۹۵۰

# افغانستان



ثور ۱۳۳۷

Download from:aghalibrary

# افغانستان

د آریانا دائرة المعارف

دپښتو څانګی

PROPERTY OF
ACKU
34259

له نشراتو څخه

ثور ۱۳۳۷

می ۱۹۵۸

دطبع شمېر ۵۰۰ جلده

د کابل په دولتی مطبعی کښی چاپ شو

کتاب فروشی خاور
پوهنتون ټاؤن شاهین ټاؤن
مرکز متصل تھانه پولیس پشاور

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033425 9

# مقدمه

د آریانا دائرة المعارف پښتو څانګه بیابرپالې شوه چه یوبل کتاب د افغانستان ترعنوان لاندې په (٥٦١) مخو نو کښې د هیواد ګرانو او پوهاړو فاضلانو او دپوهې مینانوته د استفادې دپاره وړاندې کړی . زمونږ داخپرونه په خورا ښو موضوعګانو لکه د افغانستان جغرافیائی اوضاع اقلیم ، طبقات الارض ، اداری تشکیلات ، تاریخ ، معارف ، دینونه ، کرهڼه ، حیوانات ، شنیلی ( نباتات ) صنایع ، مستظرفه صنایع ، تجارت ، کانونه ، پښتو ادبیات په لرغونو زمانو کښې ، فارسی ادبیات په لرغونو زمانو کښې ، موزه اومسکوکاتو ښکلی شوی دی .

که څوک وغواړی چه دپورته موضوع ګانو څخه ځان خبر کړی له دې ښه لار نه بوونکی بل نشته.

ځکه پورتنی مضامین د داسی کسانو له خوا لیکل شوی چه هریوئی په دې برخه کښې دښه معلومات او تخصص څښتن ګڼل کیږی نو دائرة المعارف پښتو څانګه هم ددوی د قلمی مرستی څخه دزړه له کومی تشکر کوی . همدارنګه له ښاغلی قندهاری د دولتی مطبعې رئیس څخه ، چه په طباعتی برخو کښې تل زمونږ همکاردی ، هم د پر د پر تشکر کوو او د ریالیتوب ځی له پاک خدای څخه هیله کوو . اوهغه چا چه پورتنی آرټیکلونه په پښتو اړولی دی هم تشکر کوو او نومونه ئې په لاندې ډول ذکر کوو .

سردار محمد «منګل»
د آریانا دائرة المعارف د انجمن معاون

---

**پاینده محمد زهیر** : د افغانستان جغرافیائی اوضاع او اقلیم له (١) مخ نه تر (١٤) مخ پوری او د افغانستان شنیلی (نباتات) او صنائع له (٩٦) مخ نه تر (١٠٧) مخ پوری .

**حبیب الله تبزی** : د افغانستان مستظرفه صنائع او تجارت له (١١٦) مخ نه تر (١٣٢) مخ پوری د افغانستان فارسی ادبیات دوهمه برخه ، دریمه اوځلورمه برخه له (٢٩٣) مخ نه تر (٣٠٠) مخ پوری .

**عبدالرزاق فراهی** : دلسمی پیړۍ شاعرانو یوه برخه اودیوولسمی پیړۍ شاعران له (٤٣٠) مخ نه تر (٤٣٧) مخ پوری

**عبدالله غمخور** : دسامانی دوری د نظم او نثر د مختصانو یوه برخه ، دسلجوقیانو په زمانه کښې ادبیات او عراقی سبك له (٣٤١) مخ نه تر (٣٤٩) مخ پوری .

**عبدالصبور نسیمی** : د افغانستان طبقات الارض ، اداری تشکیلات او تاریخ له (١٤) مخ نه تر (٢٥) مخ پوری ، د افغانستان کرهڼه ، حیوانات ، شنیلی له (٨٤) مخ نه تر (٩٥) مخ پوری ، د افغانستان د فارسی لهجو ادبیانو یوه برخه ، د اعرابو تسلط اودفارسی اوعربی ژبی روابط او د سامانی دوری د نظم او نثر مختصات له (٣١٥) مخ نه تر (٣٢٧) مخ پوری ، د نادر افشار نادر افغان پوری ، د افغانستان ادبیات اود دیارلسمی پیړۍ شاعران له (٤٤٧) مخ نه تر (٤٨٢) مخ پوری ، دیوولسمی پیړۍ شاعرانو یوه برخه ، دلسمی پیړۍ شاعران ، د فارسی دریمه دوره ، دلسمی پیړۍ منثور تالیفات او د نادر افشار نادر افغان پوری د افغانستان ادبیات له (٤٤٦) مخ نه تر (٤٦٢) مخ پوری .

**عبدالغنی آخندزاده** : عراقی سبك او غوریان له (٣٥٤) مخ نه تر (٣٥٧) مخ پوری .

**عبدالقدیر شهاب** : د افغانستان د تاریخ یوه برخه له (٤٦) مخ نه تر (٥٥) مخ پوری ، د افغانستان د دیارلسمی پیړۍ شاعرانو یوه برخه د افغانستان د ادبی سبك ګرځیدنه او شاعران بی او د افغانستان دغوریانو لسمی پیړۍ شاعران له (٤٩٦) مخ نه تر (٥٠٨) مخ پوری .

**عبدالهادی هدایت** : د افغانستان صنائع له (١٠٨) مخ نه تر (١١٥) مخ پوری . دیوولسمی پیړۍ شاعران له (٤٣٨) مخ نه تر (٤٤٥) مخ پوری .

**علی محمد میوندی** : دافغانستان د تاریخ یوه برخه د(۳۸) مخ نه تر(٤٥)مخ پوری . د افغانستان کانونه له(۱٤۱) مخ نه تر(۱٤۹)مخ پوری ،نظمی لسمی بهیر دشاعرانو یوه برخه له(٥۰۹) مخ نه تر(٥۲۰) مخ پوری .

**غلام جیلانی جلالی** : دافغانستان پښتو ادبیات په لرغونو زمانو کښی له۱٤۹مخ نه تر(۲۸۹) مخ پوری (تتبع) ، په پنځمه، شپږمه او اوومه بهیر کښی دفارسی نثر له(۳٦۷) مخ نه تر (۳۸۳) مخ پوری .

**غلام رحمن جرار** : د افغانستان تجارت او کانونه له (۱۳۳)مخ نه تر(۱٤۰) مخ پوری .

**قیام الدین خادم** : دلسمی بهیر شاعران له (٤۲۲) مخ نه تر(٤۲۹) مخ پوری .

**محمد ابراهیم ثابت** : دافغانستان فارسی ادبیات او له برخه له(۲۸۹) مخ نه تر (۲۹۲) مخ پوری ، د افغانستان فارسی ادبیات ، پنځمه ،شپږمه ،اوومه ، اتمه ، نهمه برخه او دفارسی لمړنی ادیبان له(۳۰۱) مخ نه تر (۳۱٤) مخ پوری . دسامانی دوری دنظم او نثر دمختصاتو یوه برخه له (۳۲۸) مخ نه تر (۳٤۰) مخ پوری او عراقی سبك له(۳٥۰) مخ نه تر(۳٥۳) مخ پوری اوغوریان، په پنځمه ، شپږمه او اوومه بهیر کښی دفارسی نثر او دنثر لیکنی دوهمه دوره له(۳۸٤) مخ نه تر (٤۰۰) مخ پوری ، دافغانستان دیوو لسمی بهیر د شاعرانو یوه برخه له (٤۸۳)مخ نه تر (٤۹٥)مخ پوری .

**محمد حسن ضمیر سابی** :له علوم لسمی بهیر دشاعرانو یوه برخه ،دفارسی نثر علوم دوره . موزه په افغانستان او دافغانستان مسکوکات له(٥۲۱)مخ نه تر(٥٤۰) مخ پوری .

**محمد دین ژواك** : دافغانستان د ادیانو یوه برخه او دافغانستان کرهنه له(٦۸) مخ نه تر(۷٥) مخ پوری .

**محمد گل نوری** : د لسمی بهیر شاعران له (٤۱٥) مخ نه تر (٤۲۱) مخ پوری .

**محمد عیسی شفیق** : دافغانستان د مسکوکانو یوه برخه او په افغانستان کښی ملوك الطوائفی له (٥٥٤) مخ نه تر(٥٦۱) مخ پوری .

**محمد نذیر** : دافغانستان تاریخ اوادیان له (٥٦) مخ نه تر(٦۷)مخ پوری دافغانستان کرهنه له(۷٦)مخ نه تر(۸۳)مخ پوری

**محمد یونس مراد** : د افغانستان د تاریخ یوه برخه له (۲٥)مخ نه تر (۳٦) مخ پوری، ،دنثر لیکنی دوهمه دوره،داوومی بهیر کتابونه ،دنهمی بهیر کتابونه ، له سلطان حسین میرزا نه وروسته د افغانستان اد بیات او دلسمی بهیر شاعر ان له (٤۰۱)مخ نه تر (٤۱٤) مخ پوری ، د افغانستان د مسکوکانو یوه برخه له (٥٤۱) مخ نه تر (٥٥۳) مخ پوری .



خجسته ذات اعلیحضرت همایونی المتوکل علی‌الله محمدظاهر شاه د آریانا دائرة المعارف
د انجمن افتخاری رئیس .



شاغلی سردار محمد داؤد صدر اعظم



والاحضرت سردار محمد نعیم دخارجه چارو وزیر اودصدارت عظمی معاون
دآریانا دائرةالمعارف دا جمن بانی .

ACKU

# افغانستان

## ۱ - جغرافیائی اوضاع

دافغانستان مملکت دآسیا په بر اعظم کښی د شرقی طول البلد د(٦٠درجو او ۳۰ دقیقو او ۷۵ درجو او ۵۰ دقیقو ) ترمنځ اود شمالی عرض البلد د (۲۹ درجو او ۳۰ دقیقو ) او (۳۸درجو او ۳۰دقیقو) ترمنځ پروت دی د دې مملکت مساحه (۸۰۰۰۰۰) کیلومتر مربع ته رسیږی . دو ګړو شهر یی تر(۱۲) ملیونو زیات دی .

خلورخواوی یی : افغانستان دشمال له خوا د تاجکستان ازبکستان اوترکمنستان په جمهوریتو پوری چه دشوروی اشتراکی جماهیرو په اتحادیه اړه لری نښتی دی دپورتنیو یاد شو یو جمهوریتو اوافغانستان ګډوډ ش او سرحد د ( Poralo-Scheikooky ) له پوزی څخه په شرق کښی شروع کیږی او دغرب و خواته دذوالفقار په کلی کښی تمامیږی. په دی واټن کښی تقریبا دوه زره کیلومتره ددواړو مملکتو د ګډ سرحد یوه لویه برخه ده اوتقریبا (۱۳۰۰ کیلومتره) پی دآمودسیند پواسطه تاکلی اوترسیمه شوې ده اوپه نورو پاته شوو برخو او نقطو کښی دافغانستان سرحد اودروسیی مستملکات (پرته دبالامرغاب له خوزی څخه چه هلته دغو کیلومترو دپاره دمرغاب سیند د افغانستان اوترکمنستان طبیعی سرحد تشکیل کړی دی د سر حدی نخښو (پیلرونو) پواسطه تثبیت اوترسیم شوی دی .

دافغانستان په مغرب کښی ایران پروت دی اوددواړو مملکتو ګډ سرحدونه کله کله دطبیعی عوارضو لکه ددر یا بونو خوړونو اومالکینو ځایو(نمکسارو) پواسطه اوپاتی برخی دپلرونو پواسطه دشمالهٔ څخه ترجنوبه پوری (یعنی په شمال کی له ذوالفقاره څخه دملك سیاه ترغره پوری په جنوب کښی ) تاکل شوی دی .

افغانستان دجنوب له خوا په بلوچستان(دپښتونستان ) دخاوری په یوه برخه پوری نښتی دی چه سرحدی خطئی د شلګنو ځایو غرواو داورغورځوونکو غرواوداسی نورو شیانو پواسطه تشکیل شوی دی.

افغانستان دشرق له خوا په چین (چه واخان داقغانستان په شمال شرقی حوزه کښی دچین دسیکیا نګ دولایت سره تقریباً دسلو کیلومترو په واټن ګډ سرحدونه لری اوپه چترال دپښتونستان په خاوری پوری نښتی دی .

طبیعی عوارض : افغانستان چه اپشیائی سویس یی هم بولی یوغرنی مملکت دی چه دغرودلړلوبدلی خوا ډی معینه اومشخصه ده . دیوی خوا دهمالیه دغرودلړ سره اودبلی خوا د غربی ایشیا دغرو د لړ سره مستقیم ارتباط لری ، که د ایشیا نقشی ته وګورو نوځر ګنده به شی چه دبنګال دخلیجه څخه دمدیترانې ترحوزی پوری خورا جګ جګ غرونه پراته دی چه په لوی والی اوجګوالی کښی دنړۍ دخورا مهمو غرو څخه ګڼل کیږی .دیادشوو غرو دخصوصیاتوځخه یودادی چه تقریباً پول پی واحده لوبدلی خوالری یعنی شرقا اوغربا پراته دی، ددې سمت سبب هغه واحد حرکت اوخوځیده دی چه دطبقات الارضی په دوهم عهد کښی یعنی تقریبا $2\frac{1}{2}$ ملیونه یا۳ملیونه کاله پخوا په هغه منطقه کښی چه نن دادایشیا دغرب او جنوب دغرولړ پروت دی. لوبه بحیره چه دطبقات الارضی پوهان پی دتتیز (Tethys) دبحری په نامه یادوی موجوده وه اووروسته دهغه فشار لامله چه دهغه وخت ددوو براعظمو څخه یعنی آنکارا په شمال کښی او ګاندوانا په جنوب کښی دتیتیز (Tethys) پر بحری باندی راغی دهغه دتل (قعر) درسوبی موادو څخه لکه چه باب دی د اوسنیوغر ولړ پیداشو، هرکله چه نوموړې بحری داوسنی وپش له رویه دبحرالکاهل وچه اواوبه پی د اوقیانوس دبحر سره دشرق څخه وغرب ته نښلولی اودهغه وخت وچی د سایبریا، هنداواوسنیر افریقاڅخه عبارت وی، نودهغوغرو دلړ د خوځیدو خواچه دتتیزTethys دبحری دتل څخه راووته هم په عمومی ډول شرقاً اوغرباوه ، دغه سبب دی چه دهندوکش ،دبابا دغره سفید کوه سیاه کوه ، تیربند اودسپین غر غرونه هم په عمومی ډول دشرقه څخه دغرب خواته امتداد اواوزدوالی لری ، اودا ددوی دواحد حرکت اوخوځیدو خوا باید منطقوی پښه و نه ګڼو اولکه چه پورته وویلشول دیوریشیا په یوه لوی عامل پوری پی باید وګڼو ، طبیعی ده دغرو ددی لړ دپیدا کیدو په ترڅ کښی ددې دپاره چه دمځکی دقشر دیوې ناحیې توازن و یجاړ نه شی، په مقابل کښی پی داسی کښته اوخورځایونه پیداشول چه دهغی پیړۍ اویاترهغی پیړۍ وروسته سیند ونو پکښی ځای ونیو اوخپل رسوبی موادپی پکښی واچول، دغرو په دې لړ کښی، پښتنی مځکی چه ځنی پی یوه دبلی سره موازی او ځنی پی یوه دبلی په امتداد کښی پرتی دی . کوچنی او لوی کښته اوخورځایونه چه ځنی پی د ( Synclinorium ) شکل لری اوځنی پی د(Synclinal) شکل لری تشکیل شول او دغرو دلړ په موازی لویدلی اوامتداد لری .

سربېره پرپورتنیو ذکرشوو منظمو شکلو د پښتنی هیواد په توپوګرافی کښی ځینی نورتکنونیکی عوارض لکه دغرو په چون خورلو کښی ماتیدنی اویاهغه خوړتیاوی اولوړ تیاوی چه دا ورغور ځوونکو غرو دپیدا کیدو پواسطه پیدا کیږی

هم موجودی دی. باید وویلشی چه دپښتنی غرو لرډخپل حرکت اوخوځېدو په ترڅ کښې دشر قه څخه غرب ته دیوې خوا په مختلفو ځانګو ویشل کیږی اودبلی خوا یې جګوالی د زمین داور اوهزاره جات دغرو دلړ په شان همدغه چه دغرب و خواته ځی ښکی له منځه تللی دی اوغربی پای یې دپښتنی مځکو د خورا لویو ځوړو او کښتو سیمو اوحوزو تررسوبی موادو لاندی چه دافغانستان دجنوب غرب له حوزې څخه عبارت دی ورکېږی .

دغرودلړ ځینی نوری ځانګی په تیره بیاهغه چه د هریرود په شمال کښې دی دپښتنی سرحداتو څخه تیریږی او دایران په خاوره کښې دخراسان دغرو دلړ پواسطه، تراوسه د غرب او شمال غرب وخواته امتداد لری اودهمالیه اوالبرز د خوځېدو خط تعقیبوی .

داهم باید ووایو چه د پښتنی غرو دلړ لوی دیوال چه دشرقه څخه وغرب ته ځی یعنی دکوچنی پامیر څخه شروع کیږی اوددوشاخ وغره ته دهری رود دمنځنۍ درې په جنوب کښې دغرب وخواته رسیږی اونن یې د اوبو دوښلو سرحد د شمالی سیمو اوهندوکش ، کوه بابا اوسفیدکوه اوجنوبی سیموترمنځ تاکلی دی . دطبقات الارضی په زمانو کښې یې هم یو مهم رول دپښتنی مځکو اوهېواد دشمالی اوجنوبی په دی دوو برخو کښې لوبولی دی، ځکه داوسنیو غرو دلړ ترپیدا کېدو دمخه چه دارو باد آلپ دغرودلړ دتشکیل سره نزدې ( یعنی دطبقات الارض دریم عهد) دی، په هغه ځای کښې چه نن د غرو دالړ شته نور حایلونه هم موجودوو اوپه همغه سبب دهغو ډبرو ارتباط چه تراوسه دهندوکش او کوه بابا دغرو دلړ په شمال کښې ترغور اوږې نی لاندی نیول شوی دی دسیر دریا او البرز دحوزی ډېرو سره ډېردی . مګر هغه ډبری چه دپورته یاد شوی دېوال په جنوب کښې لیدلی کیږی دایشیا د جنوب شرق د غرو دلړ ډېرو سره بشپړ ورته والی لری .

په پای کښې باید ووایو چه دیوې خوا دپښتنی غرو دلړ دواحد حرکت اوخوځېدنی خوایوه منطقوی پېښه نه ده او دغربی اوشرقی لړ و سره یومستقیم ارتباط لری او دبلی خوا دلوړو اوځوړو وښ اووضعیت ددې ځای په تکنو نیک پوری اړه لری (دافغانستان جیولوجی دې ولیدله شی) ځکه دغرو دغو کو ډېر خطونه د (انتی کلینل) په لوړو اوغونډیو پوری اړه لری اودرې اووادی یی د(سن کلینل) په ځوړو او شپلو پوری اړه لری، په تیره بیا په شمالی برخو کښې یعنی دکوه بابا او هندوکش دلوی دیوال وهنی خواته .

دپښتنی غرو لړ : واخان اوپامیر : دایشیادبراعظم په مرکز کښې لوی اوجګ فلات شته چه دپامیر یادنړی دبام په نامه یی بولی . لکه چه دروسی پوهانو لکه (Markov) اوداسی نورو دکتنو څخه څرګندیږی پامیر پردوو شرقی اوغربی برخو باندی وېشلای شو . لومړی برخه خورا جګه او دحقیقی فلات شکل یی نیولی دی چه د (٦٠٠٠) څخه تر (٧٠٠٠) مترو پوری جګوالی لری. مګرغربی پامیر دشرقی پامیر په برخلاف دیوې خوا لږ جګوالی لری اودبلی خوا دیخچالو پواسطه خورا زیات ویجاړ شوی او ړپدلی دی . واخان د همد غه غربی پامیر یوه برخه ده چه دوکتوریادجهیل اودپامیر داویو په جنوب کښې پروت دی اوزمونږ دمینی او مځکو غونډی او دمخه راوتلی ځایونه دروس دمستملکا تو تر منځ په شمال کښې اودچترال په جنوب کښې دچین تر سنکیا نګه پوری تشکیلوی . په واخان کښې د بها ندو اوبو ائتکال اوبیا دطبقات الارض دځلورم عهد یخچالونه دوه مره غښتلی وو چه نومورې ناحیه یې په غرنیو خورا نریو اونازکو دیوالو او پرا خو او ژورو درو ویشلې ده، په ډیرو درو کښې یخچالی نخښی ښکاره اوپه ځینو برخو کښې سره له دې چه دبهاندو اوبو ژر اوچټك عمل شته تراوسه دیخچال ددرې د(U) شکل لیدل کیږی .

ننني یخچالونه چه دطبقات الارض دځلورم عهد د لومړنیو یخچالو بقایا اونخښی دی مخ پر کمی اولږ والی دی او یخچالی جبهه هر کال مخ پر کمی اوترشا کېدو ده، ددائمی وا ورو او یخچالو دویلی کېدو لامله دپنجه (آمو) داوبو معاونین منبع اخلی اودغرب اوشمال غرب وخواته بهیږی . په واخان کښې دهوا دسړوالی اودډیرو واورو لامله دکال او ه میا شتی ونی اونباتات نه وی، مګر په درو کښې یی په تیره بیا په هغو درو کښې چه مخ پرجنوب پرتې دی وګړی استوګنه لری او لږغه په کر هنه په تیره بیا په مالداری بوخت دی .

هندوکش : هندوکش یا هندی قفقاز دپښتنی غرو دلړو دخورا لویو اومهمو لړو څخه دی او کوتلونه ئی دخوراپخوا زمانو راهیسی دسند دحوزې او داکسوس دحوزی ترمنځ دتاك وراتګ لاری تشکیل کړی دی . دهندوکش لړ دشمال شرق څخه دغرب اوجنوب غرب وخواته پروت دی اودهغو غروسره چه دغرب وخواته ددې لړ په امتداد کښې پراته دی یوډول لوی دیوال یی تشکیل کړی اودافغانستان شمالی برخه اوسیمی دهغو منطقو څخه چه ددې

لوی دیواله پەجنوب کښی پرتی‌دی (یعنی نورستان ، کا بلستان اودهامون ،هلمند حوزه )جلاکوی .دهندوکش د غرولړ پەشرق کښی ترپښتنی خاوری دباندی ، ځینو دکوئن لن دلړ پەادامه کښی اوځینو دقراقرم‌پەامتداد کښی بللی‌دی ، وروستنیړ نظریه وحقیقت ته نزدې ده ، ځکه چه د هندوکش مرکزی هسته دقراقرم دمحور دخطپه امتداد کښی‌پرته‌ده او دبروغیل کوتل دغرو ددواړو لړو فاصل‌حد تشکیل کړی‌دی که دطبقات‌الارضی ومختلفو دوروته وگورو ، څرګندیږی چه دهندوکش ننني‌ړ منطقه دلومړی عهده څخه د دریم‌عهد تر وروستنیو وختو پوری د ډیرو خو ځید نو د پښپد و ځای و د مځکو چو نېلی ( چین خوردګی) ځایونه دغرو داسی لړونه په دې ناحیه کښی تشکیل اووروسته یی دائتکال عمل نه منځه وړی دې څوپه پای کښی اوسنی لړ ودان او راووت . هرکله چه درسوبی موادو په متن کښی‌چه هندوکش یی جوړ کړی‌دی د ارژغور ځوونکو ډبرو لنډه طبقه اوپورې اوایرې لیدلی کیږی نوښکاره ده چه دچونېلی ځایو په ترڅ کښی د مځکی قشر په دې ناحیه کښی ډیری ماتی او شپلې هم پیدا کړی دی چه داور غورځوونکو غرو د پیدا کېدو سبب ګرزېدلی دی .

دهندوکش دغرو لړ د جوړښت لامله یردووبرخو ویشلای شوچه یوه‌یی مرکزی هسته‌اوبله‌یی دمرکزی هستی هغه‌خواده. مرکزی هسته دخارا-له ډبرو څخه تشکیله شوې ده چه دغرو دلړ درا وتلو پەترڅ کښې درسوبی ډبرو پواسطه پټه‌شوی وه، مګردسیلابو دائتکال‌عمل درسوبی ډبرو تلتك تقریباً د مرکزی هستې په ټولو برخو کښی لەمنځه وړی اونن یوازی د چار در او دخاواك دکوتل په برخه کښی‌ددی‌رسوبی ډبرو نخښی پاته دی اوبس .

دمرکزی هستې د خط سیر په موازی په تیره بیا په شمال کښی دمځکی دقشر چوڼ او ګونځی (چین) خوړونکی ځایونو یوشمیر زیات آتی‌کلینلونه (غونډی) چه د مستقلو غرو شکل یی ځانته غوره کړی‌دی، اوسن کلینلونه (ځوړځایونه‌اوشپلی)ئې پیدا کړی دی .ځینی ددی شپلو او کښتو ځایو نو څخه ددریابو پوا سطه ډك شوی او تکنونیکی درې‌یی تشکیل کړ ی دی ، سیغان آب اوسرخ آب په شمال کښی او د پنجشیر ، غور بند اودبامیان درې پەجنوب کښی ټولی تکنونیکی درې‌دی .

هندوکش چه‌شپږسوه کیلومتره‌اوږدوالی لری‌دتوپوګرافی او دده د لویدلی وضعیت لامله پر شرقی او غربی دوو برخو ویشلای شو، شرقی برخه‌یې دیولیړ له درې‌څخه چه په کوچنی پامیر کښی‌ده شروع کیږی او دخاواك ترکوتله پوری امتداد مومی، دخاواك له‌کوتله څخه‌تر آق رباط اود بامیانو ترددی پو ری غربی هندوکش دی . د هندوکش سور د بد خشان په شاوخوا کښې(۱۰۰ کیلومتره او دخاواك) په کوتل کښی (۲۵) کیلو متره اوبا میانو ته نزدې تقریباً(٤٠) کیلو متره دی، د هندوکش اوسط جګوالی د ٤۵۰۰ او ۵۰۰۰ مترو تر منځ تا کلای شو .

شرقی هندوکش چه‌تراوسه پوری‌لا معلومات پکښی نه‌لرو دپښتنی غرو پەلړ کښی خورا جګ غردی، او سط جګوالی یی تر(۵۰۰۰) مترو زیات دی اوخورا جګه څوکه یې تیر اجمیر نومیږی چه۷۷٤۰ متره جګوالی‌لری ،پەشرقی هندوکش کښی داسی کوتلونه اوغرونه‌شته‌چه‌جګوالی‌ئې د(٤۲۰۰) مترو‌څخه لږنه‌دی له‌دغه‌سببه ده‌چه دکال زیاته‌برخه‌په واورو پټ اودتګ وراتګ دپاره‌چندانی مساعده اوښه‌نه‌وی ، ددی غرو او کوتلو څخه‌مهم کوتلونه دشرقه څخه و غرب‌ته د شتبال کوتل دی چه ٤۸۷۰متره جګوالی‌لری اوبل داولیان کوتل دی چه (۵۰۷۰) متره‌جګوالی لری ، دریم‌یې دخارزار کو تل دی چه (٤۸۰۰) متره جګوالی لری .

په ځینو کوتلو او دکنړ ددرې په پورتنیړ برخه اودکنړ ددرو پەمعاونینو کښی یخچالی نخښی لیدلی کیږی ، دهغو درو دیخچال دائتکال پەنخښو کښی چه‌د(u) شکل‌یی‌نیولیږ اواوس ئی دبها ندو او بو پواسطه خپل شکل ته تغیر و ر کړی دی اوهمدغسی هغه دزرونه او سوری چه‌دیخچالی‌مورنو دتېر ېدو پەوخت کښی‌ئې پیدا کړی‌دی ،پەهغو منطقو کښی‌چه‌تر (۳۰۰۰) متروزیات جګوالی لری لیدل کیږی .

سربیره پرتنني یخچالو، په ځینوځایو کښی‌چه تر(۵۰۰۰) متر و ز یات جګو الی لری نو ر یخچا لونه اوس لا هم شته اودطبقات الارضی ددریم عهد دوروستنیو و ختولوی یخچالونه راپه یادوی . ددې یخچالو او دایمی واورو دویلی کېدو لامله دی‌چه د آمو اواباسندمعاونین په شمال‌اودشرقی هندوکش په جنوب کښی کولای‌شی چه‌دکال پەټولو برخو کی‌کافی اوبه‌ولری.

غربی هندوکش: چه‌جګوالی یی‌دشرقی هندوکش په نسبت لږدی ، پەشمال اوجنوب کښې د ځلورو درو په واسطه احاطه شوی‌دی دوه شمالی دریابونه چه یود بل پەمقابل کښې بهیږي پەپای کښی سره یوځای اودشمال وخواته ځی ، دا دریابونه دسرخ‌آب او داندراب دریابونه دی ، اودوه نور دریابونه چه دغربی هندوکش پەجنوبی لمنه کښی یودبل و خواته بهیږی‌او پەپای کښی سره یوځای کیږی اود کابل ددریاب‌وخواته بهیږی دپنجشیر او لوګر دریابونه دی ، داځلور دریابونه چه دغربی هندوکش په جنوبی او شمالی لمنو کښی‌بهیږی ، دره‌ئی داسی ترتیبه شوی ده چه‌غربی هندوکش ته‌یی بادامی شکل ور کړی دی ، په دی برخه کښی هندوکش چه (۲۳۰) کیلومتره اوږدوالی‌لری د تګ وراتګ دپاره اسانه کوتلونه

لری ، لـکه چه دمخـه وویل‌شوه‌دزرهاوو کـالو را پـدې خوا داکسوس‌دحوزی پردیسانو اومهاجمینوته یی وسندته اوله سند څخه‌یی اکسوس ته لارور کـړې‌ده دخاواك کوتـل دغـربی هندوکش په شرقی پای کـښی (٣٦٠٠) متره جگوالی لـری دتل کوتل (٣٦٠٠)متره‌جگوالی‌لری‌دکوشان کوتل (٤٣٧٠) متره جگوالی لری، دچار درکوتل (٤٢٣٦) متره اود دنـدان شکن کـوتل (٢٧٠٠) متره اودشبر کوتـل (٣٢٠٠) متره جگوالی‌لری .

کوه‌بابا : دپښتنی‌غرو په لړ کښی نسبتـا مرکزی و ضعیت لری اودهندوکش‌څخه دبامیانو ددری پواسطه راجلا شوی دی دبـابـا غرچه تقریبـا پەمستقیـم خط سره دشرقه څخه د غـرب وغواته امتداد لری دجورښت لا مله چندانی ساده نه ښکاری ځکه‌هغه ځانگی چه مختلف خط سرونه لری دمرکـزی برخی څخه‌جلا اودشمال، شمال غرب ، جنوب او جنوب غرب وخواتـه امتدادلری . دبـابـا دغره د مـرکـزی برخی اوسط جگوالی (٤٠٠٠) متره‌دی مگـر ځنی ځوکی یی (٥٠٠٠) متره بلـکه تردی لازیات جگوالی هم‌لری .

دشا فولادی ، څوکـه چه (٥١٤٠) متره جگوالـی لری دغرو په‌لړ (سلسله) کښی خورا لوړه څوکه اوپه دا یمی‌واورو پته‌وی، یوشمیرزیات سیلابونه ، نـاوونه او پښتنی دریـابونـه دبـابـادغره‌څخه سرچینی اخلی دښد امیررود، دهری رودد‌ریاب اوذهلمند معاونین دبـابـا دغـره دجنوبی اوشمـالی لـمنو څخه سرچینی اخلی‌اودجنوبی اوشمـالی خواوکښتو سیموته‌لځی .

دبـابـادغره دمحور دخط ځینوکوڼ تیاوو دا سی کوتلونه پیدا کړی‌دی چه‌پەهیڅ ډول دهندوکش دکو تلو اهمیت نه لری ځکه‌پردیسان دمخه‌تردې چه‌هغو کوتلوته‌لکه‌حاجی گـگ،سیاه ریگ اوزردسنگ نامی‌ته ورسیږی ،بایدپه شمـال کښی‌دبیخی غرنیو مخکو ، یکاولنگ ،سیغان، کـهمرد او په جنوب کښی ددای کـندی اوبهسودو څخه تیرشی .

نوهغه‌شی چه‌گرزیده‌اوسیاحت اووړل اوراوړل د بابادغره لهلاری‌څخه گرانوی همدغه‌دهغوغرو دلړپلن‌والی او پراخوالی دی‌چه ځانگی‌پې دجگو اومنوازی دیوالو پەشان دتگ‌وراتگ لار بند وی ، پەتېره‌بیا چه ددې لړیوه لویه برخه واوره نیسی اودځلورو میاشتو څخه ترنهو میاشتو پوری بنده وی .

فیروزکوه : ځینی‌دغروهغه‌دوه‌لړونه‌چه د بابا دغره‌پەغرب اودهری‌رود پەجنوب اوشمال کښی پراته‌دی دفیروز کوه پەنامه یادوی اودادوه لړونه‌دکوه‌سفید څخه پەشمال کښی‌اودکوه سیاه څخه دهـری رود ، دد ړې پـه جنو ب کښې دی . سفید کوه دحصار دغره دغربی‌برخی‌څخه راجلاشوی اودهری رود پرښی‌ځنډی باندی تقریبا پە مستقیم خط دشرقه څخه و غرب ته ځی اوامتدادلری ، اوسط جگوالی پـې تقریبا (٣٠٠٠) متره دی اوځولوړی اوژوری‌پې پەلړ کښی‌څرگـندیږی‌چه‌دتگـو راتگ آسانه کوتلونه پې تشکیل کړی‌دی ډیری‌لاری چه دهری رود ددرې حوزه دمرغاب ددریاب دحوزې سره پە شمـال کـښی نښلوی‌ددغو کوتلوڅخه تېرپږی، خورا مشهورپې د(زرمست) اود(اردوان) کوتلونه دی، کوه سفید چه د ډیرو درنگ لامله اوهم‌دډیرو واورو لەسببەچه پرخپلو څوکوپې لری په دې نامه یادیږی اودمرغاب اوهری رود دیوه شمېـر معاونینو سر چینه گرزی دسفیدکوه اوزدوالی دحصار دغره‌څخه پە شرق کښی داردوان ترکوتله پوری پەغرب کښی تر (٢٥٠) کـیلو مترو زیات دی داردوان د کوتل څخه(١٦٢٠)متره‌وروسته‌دسفیدکوه نوم‌اوړی اودچشمه سبزترکوتله پوری د(برخوت) په نامه اوله هغه‌ځای‌څخه وروسته د(سیاه‌بوبك) په نامه یادیږی .

ددې‌دوو لړو لوبـدلی‌سمت ، پەلو مـړی سر کـښی یعنی داردوان له کوتل څخه دچشمه سبز ترکوڼ والی پوری غرب اوشمال‌غرب اوله‌هغه‌ځایه‌څخه وروسته شمال اوشمال مغرب‌دی ترخوچه‌داپران‌خاوری‌ته ددې‌غرو دلړ تر پایښت‌او ادامې دمخه هری رود، دکـمان‌بهشت‌اوذوالفقار دکـلوترمنځ (چه‌ذوالفقار دافغانستان دسرحداتو پەشمال غربی گوټ کښی پـروت دی ) خپله‌در ه‌دغره پە منـځ کښی کښی‌اوخپلی اوبه‌دتنگناو او حوزو پواسطه دجنوبی لمنوڅخه وشمالی‌خواته وړی .

دبرخوت اوسیاه بوبك جگوالی داردوان د کوتـل پەشا وخواکښی تقریبا (٢٥٠٠) متره‌دی ، اوپه خپلو گرزبدو کښی زموږدغربی سرحداتووخواته لږیږی اودهری‌رود په څنډه کښی تر(١٢٠٠) متروزیات جگوالی نه‌لری ، کـه‌څه هم د(برخوت اوسیاه‌بوبك) غرنی دیوالونه دگـلران ، بادغیسات اود همرمو پەدښته اودهری‌رود پەمنځنی‌درده کښی دیوه حائل شکل مومی مگر دډیر کوزوالی لامله دد ې غر و دلـړ په محور کـښی دپورتنیو یاد شوو منطقو تر منـځ د تگ وراتـگ دآسانو کوتلو دپیدا کـیدو سبب گرزبـدلی دی سفید کوه اوامتداد یې‌دغـر ب و خواته د ننوتلو په وخت کښی دایران وخاوری تـه خپـل شمال غربی خط سیرته ادامـه ورکوی اوهـلته د (پنیالود - ویـکتان کوه ) په نا مـه یـا دیـږی اودمشهـد دحوزی وخواتەلځی او دخراسان دلړو سره یوځای کـیږی .

سیاه کوه : (معلومیږی چه‌دبـابـا دغره دمرکـزی برخی امتدادوی) شرقاً اوغربـا مستقیـم خط سیر نـه لری بلـکه دشرقی برخی څخه ځې چه‌د (کوه بیـان) په نـامـه یـادیـږی مختلفـی ځانـگی راجلا کـیـږی او دغـرب اوجنوب غـرب وخواته لځی .

ددې ځانګړو څخه یوه ځانګه د هری رود او د هری رود دلوی معاون (نګاو ایشان) ترمنځ یو حائل تشکیلوی دسیاه کوه‌و یش پر مختلفو ځانګړو ډلینو درویعنی طبیعی لارود پیدا کېدوسبب گرزېدلی دی څو د غرودلړ په دننو ځایو کښی نفوذو کړی د سیاه کوه جګوالی د سفید کوه په نسبت لږ مګر اوږ والی یې ډیردی .

دسیاه کوه یوه‌ځانګه‌چه په‌غربی‌پای کښی‌یې‌پرته‌ده د(کوه‌دوشاخ) په نامه یاد یږی اود اوبو ، حوزو، دریابو او طبقات‌الارضی ویش لامله خورا د اهمیت وړ بلل کیږی .

د دوشاخ غر د هغه لوی دیواله وروستنۍ برخه چه د کوچنی پامیر او هندو کشه‌څخه‌شروع کیږی‌تشکیلوی . اوهغه دریابونه چه ددې لړ د شماله څخه سرچینه اخلی ټول دشمال وخواته یعنی د (ارال) او (کسپین)پراخو او کښتو حوزو ته میلان لری او د جنوبی لمنو دریابونه‌یې د سند د دریاب اویا داخلی حوزو ، وخواته چه‌لږ جګوالی لری لکه هامون هلمند اوداسی نور رابهیږی ، دطبقات الارض لامله هغه‌ډبری چه‌ترنه‌پوری‌دپورتنی یاد شوی دیوال په شمال کښی لیدلی شوی دی ، اغلباً خو را پخوانۍ Paleozoique دی اوهغه‌ډبری چه دهندو کش اودوشاخ دغره دلوی دیواله په‌جنوب کښې لیدلی‌شوی‌دی په عمومی ډول دطبقات الارض ددریم عهد اودځلورم عهد دلومړیو وختو څخه معلومیږی .

تیربند : د مرغاب دمنځنۍ او پور تنۍ درې په شمال کښې دغرو یولړ تقریباً په‌سم او مستقیم خط د (٦٦) او (٦٣) درجو په‌شرقی طول البلد د شرقه څخه‌و غرب ته ځی ، دالړ چه اغلباً پر غربی برخه ئې دتیربند نوم اطلاق شوی دی دافغانستان دشمالی منطقو د غرو دلړ په منځ کښې دیوه جلا او مستقل غره شکل لری . مګر په حقیقت کښې تیر بند د طبقات الا رض له امله د هغو غرو د لړ سره چه‌د هندو کش دمر کزی هستې په شمال کښې د تاشقرغان او خان آباد تر عرض‌البلده پوری موازی لویدلی دی، مستقیم ارتباط لری . تیربند چه اوزد والی ئې (٣٠٠) کیلو متره دی ، ددرزاب، گرزیوان ، میمنې ، قیصار او بالا مرغاب علاقې دفیروز کوه، اوچخچران‌دمنطقوڅخه چه‌د مرغاب ددرې په‌جنوب کښې پرتې‌دی جلا کوی، د تیربند اوسط جګوالی تر (٢٣٠٠) مترو زیات دی ، ډیری کوږ تیاوی دغره دمحور په‌خط کښې‌شته او ځینی څو کی یې تر (٣٠٠٠) مترو پوری جګوالی لری . خورا جګ غرئې‌د(٦٤) درجو دطول البلد په شرق کښی تقریباً (٣٥٠٠) مترە جګوالی لری .

تبصره : دپښتنی خاوری دشمال غربی. غرو د لړ یعنی دتیر بند ، سفید کوه ، بر خوت کوه او سیاه بو بك دخصوصیاتو څخه یو خصوصیت دادی‌چه دتوپو گرافی له‌نقطه نظره څخه‌ددوی دجنوبی اوشمالی امنو ترمنځ لوی توپیر شته جنوبی برخی ئې په‌عمومی ډول دائتکال‌دعمل په واسطه ورانی اونړیدلی اوډیری‌لوړی اوژوری‌لری‌اودیوه ځوان توپوگرافی شکل‌لری . مګر دد ې غرو شمالی لمنه بر عکسه نسبتاً زړه توپو گرافی رانښې ددې توپیر سبب د پورته یاد شوو غرو دلړ دشمال اوجنوب دبرخو په توپو گرافی کښې دا دی ! هغه بادونه چه‌دشمال له‌خوایعنی دسایبریا څخه‌را الوزې ، د چلېدو په ترڅ کښې دجنوب وخواته یوه اندازه د وړی ، شګی او خاوری د روس دتر کستان له سطحی څخه د ځانه سره را واخیستی اوهغه وخت چه‌دهغو غرودلړو سره چه پر لارئی‌پراته وه ولګېدې دامواد ئې دغرو په‌لمنو اوغونډیو کښې‌پری ایستل هر کله چه‌دترتیب اوپری ایستلو داعمل دځوزرو کالورا په‌دې خوا پایښت‌درلود ،نودپښتنی‌خاوری دمغرب اوشمال دغرودلړ په شمالی لمنو اوغونډیو کښې اوس هم‌دځومترو په پنډوالی‌پورتنی یاد شوی رسوبی مواد (Loess گل گل) شته چه دډبرو مخ‌یې ورپټ کړی دی او دغرو دلړ شمالی لمنو او غونډیو ته ئې او نسبتاًدزاړه توپوگرافی شکل ور کړی دی ، د بهاندو اوبو دائتکال عمل په‌دې ناحیه کښې چه د اورښت اندازه‌ئی لږه ده خورا بی سیکه اوضعیف اوژوری درې ئې د گل گل Loess دخاوری په‌دننه کښې ترسیمی کړی‌دی .

شرقی تورغر اوسپین‌غر : دکابل او کرمی ددریابو دحوزی ترمنځ دغرو دوه لړ و نه‌شته چه لویه برخه ئې په‌پښتنې خاوره کښې اوپاته‌ئې زموږ دسرحد و وهنی خواته پرته ده . شمالی لړئې د(سیه کوه ) په‌نامه اوجنوبی‌لړئی‌دسپین غر یاسفید کوه په‌نامه یادېږی .

تور غر دسوات له‌درې څخه‌شروع کېږی او دغرب‌وخواته ځی اود کنړ اوکابل ددرې ترتېرېدو وروسته دلو گرو درې ته نژدې له‌منځه ځی .

تورغر چه د پخو انیو ډبرو (لکه میکا ، شیست اوداسی نورو ) څخه تشکیل شوی‌دی د هغو طبقو او پوړو لویدنی او میلان دی چه‌د جوړښت ډ بری ئې د شمال وخواته وی . په بل عبارت دسیاه کوه اودده دګونډی دلړ یعنی‌سپین غره‌دتشکیل په‌وخت کښې هغه‌فشار چه‌دجنوب له‌خوا یعنی‌دګاندواناد براعظم څخه رسیدلی و ، دشمال دفشار په‌نسبت زیاتو ، اود مځکې دقشر چون خو ړونکې ئې په دې ناحیه کښې دشمال و خواته پرتې دی .

دتورغره په جنوب کښې يوه لويه وادی دهغو رسوبی موادو څخه چه بنايی د (کاربونيفر) له دورې يعنی دطبقات الارض دلومړی دورې له وروستيو وختونو څخه وی شته ، دتورغره دلړ دآهکی ډبرو رګونه چه د (ليتود اندرون Lithiodendron) او (دسيرو کاردیوم Dicerocadium) فوسيلونه لری ، د کابل ، کټر اوسرخاب له درو څخه تېريزی اودلوګر تردې پورې رسيزی اوسرپېره پرنورو چوټ خوړونکو ځايو آهکی ډبرو دتور غره اوسپين غره ترمنځ مستقل لړ چه نسبتاً لږ جګوالی لری تشکيل کړی دی چه دتورغره اوسپين غره تر منځ حائل شوی دی .

سپين غر دکابل ددرياب په جنوب کښې دپښور د شاو خوا څخه شروع کيږی او دغرب خواته ئې جګو الی ډيږ يږی ترڅو چه جګوالی ئې د سيکارام په څوکه کښې (٤٨٠٠) مترو ته رسيږی . لکه چه پښکاره ده يوه لويه ماته (شکستګی) دغرو دلړ دننه پرته او دطبقات الارض د لومړی عهد بلوری ډبری ئې (چه دلړ اصلی هسته ئې تشکيله کړې ده ) ددوهم عهد دطبقات Mesozoique څخه جلا کوی ، داوروسته ياد شوو موادو دلړ په ټولو ځايو کښې موازی خطونه تشکيل کړی او په غربی برخه کښې د ګرزيدو خطائی دشتر ګردن اولوی کوتله څخه تېريزی اودغزنی دحوزې وخواته ځی . دکوهاټ او دټل په حوزه کښې هغه چوټ خوړونکی ځايونه چه د (مسوزوئيک) دموادو موازی خطونه تشکيلوی دشمال وخواته يوه لويه لويدلی (خوابيدګی) لری. په همدی ډول موازی خطونه اوخوابيدګی اوچون خوردګی د (سپين غره) دی چه ځينی ئې دهزاره دلړ په امتداد پورې چه دسند ددرياب پر کښې خټې دمظفر آباد اواټک تر منځ پروت او کټ مټ همغه تشکيلات لری ،مربوط ګڼی . ګواکی د هزاره دلړ دمحور دخط په امتداد کښې داټک او پښور تر منځ يوه وقفه پيدا شوې اود پښور دښار تر غرب وروسته سيرئې بيرته شروع کيږی اود پښتنی خاوری وخواته پاينت لری تر څو چه تور غره په شان دلوګر درياب ته نزدې بيخی له منځه ځی ، دسپين غره لويدلې خوا (چه دخيبر اودپيواړ د کوتل ترمنځ دشينوارو دغره په نامه يادپښی) تقريباً په مستقيم خط (شرقاً اوغرباً) دی او فاصل حد دافغانستان دخاوری اودپښتنو دقبائلی قومو ترمنځ ترسيموی ، په دې ترڅ کښې سپين غر په دې ناحيه کښې داوبو دوېشلو سرحد دکابل ددرياب اود کرمی د درياب ترمنځ تشکيل کړی دی .

دسليمان غر : (ياد کسې غر) دشتر ګردن تر کوتل ورو سته دغرو هغه مهم لړ چه لويدلې خوا يې د دوو پورتنيو يادشوو لړو (يعنی سپين غره اوتورغره ) په نسبت بيخی مختلف دی شروع شوی اودپښتنی خاورې تر جنوبی خوا وو پورې پاينت لری دالړ چه تقريباً (٦٠٠) کيلومتره اوږدوالی لری دشرقه څخه تر غربه پورې د (غربی سليمان داغ) او (شرقی سليمان داغ ) پردوو برخو ويشلای شوچه ددواړو ترمنځ جګه هواره ( چه په هغه کښې څمکنی ،زدران اوارګون پراته دی ) پرته ده ، د سليمان د غره غربی اوشرقی لړ دواړه خورا تنګ چوټ خوړونکی ځايونه اوخطونه لری اودطبقات الارضی ددريم او دوهم عهد د آهکی ډبرو څخه تشکيل شوی دی ، دسليمان د غره شرقی برخه دافغانستان په جنوبی برخه کی د و زيرستان مځکی تشکيلوی اوجنوبی ځانګی ئې په بلوچستان کښې ديوه لوی ديواله په شان دسند ددرياب حوزه د (مشکل) دداخلی حوزې څخه جلا کوی ، د شرقی سليمان لړ دبولان د کوتل په شاوخوا کښې د ( زوب) دپورتنۍ درې په جنوب کښې د غربی سليمانه سره نښلی او غربی منطقه چه طبقات الا رضی پوهان ئې د کوئټې، پښين دغوټی په نامه يادوی تشکيلوی ،پس له هغه بيا په مختلفو ځانګو وېشل کيږی چه ځينی ئې لکه جلوان او سروان په مستقيم خط سره دجنوب وخواته ځی او کراچی ته نزدې دعربو دبحرې و څنډی ته رسيږي او نوری ځانګی ئې دبلوچستان په منځنۍ برخه کښې دغرب و خواته ميلان مومی او دمشکل حوزه په جنوب کښې چاپير (احاطه) کو ی. دسليمان د غره لړچه دخپل جغرافيائی موقعيت لامله د نو روپښتنی غرو د لړ و په نسبت زيات لوند (مرطوب) دی دبهاندو اوبو دائتکال عمل ،ځوانی اوتازه درې اوځينی تنګناوی ئې پکښې جوړی کړی دی ، مګر سره له دې هر کله چه غرونه ډپرځل له ګڼو ونوټک اوپه هغو نباتاتو چه دونو په سيورو کښې شنه کيږی پټ دی نودبهاندواوبو د ائتکال عمل په اوسنيو وختو کښې چندانی مهم نه دی .

دريابونه او داوبو وېش په افغانستان کښې : افغانستان داوبو اودحوزو دوېش له مخی پردرو لويوحوزو باندی ويشلای شوچه دړې حوزې ئې د (هندوکش ،کوه بابا او غربی سياه کوه) دغزنی لوی ديواله په جنوب کښې پرتی او دهامون ، هلمند اود سند ددرياب د حوزو څخه عبارت دی ، مګر در يمه حوزه د پورتنی يادشوی ديواله په شمال کښې پرته اود اورال او کسپين دحوزې په نامه ئې بولی .

دارال او کسپين دحوزې دريابونه : يو شمير زيات دريابونه چه د پامير ،دهندوکش دشمالی لمنو ، کوه بابا اوغربی سياه کوه څخه سر چينې اخلی د ارال او کسپين د حوزې و خواته چه د ماورا ءالنهر دمځکو خورا کښته منطقه ده متمايل دی ، ددې دريابو څخه ځينی دريابونه په کافی اندازه اوبه لری او کولای شی چه د آمو ددرياب په شان دارال او کسپين ددووجهيلو په يوه جهيل کښې لو يږی ، مګر ځينی نوريی لکه مرغاب، هريروداو داسی نورچه پخوا دارال يا کسپين تر څنډو پوری رسيدل مګر نن داوبو دلږ والی له کبله پرلاری و چيږی ځکه داقليم تغير په

په شمالی نیمائی کره کښې دیادشوودریابودواوبو دحجم دلږوالی سبب کرزېدلی دی.

دآمو دریاب: دآمو دریاب چه یونانیانو اکسوس اوعربانو جیحون بللی دی اونږې پخپل ۱۲۰۰ کیلو مترو زیات واټن سره سیاسی فاصل حدد افغانستان اوروسی مستملکاتو ترمنځ په مرکزی ایشا کښې تشکیل کړی دی دکوچنی پامیر څخه سرچینه اخلی اوپه خپله پورتنۍ برخه کښې د(آب واخان) په نامه او وسته له هغه چه آقسواودپنجې اوبه پکښې گډی اولویږی د (آب پنجه) په نامه یادیږی معاونینې چه په دی ناحیه کښې دکوچنی پامیر اولوی پامیر دیخچالو څخه سرچینه اخلی ، کله کله په یخچالی جهیلو کی دننه هم بهیږی اود خپلو او بو حجم پیدا کوی لکه دپامیر اوبه چه د(سرقول) په جهیل کې دننه بهیږی اوآقسو چه د (چقمق تین قول) څخه تهریږی اویا په آمو کښې لویږی، دآمو اودآمو دمعاونینو دبهیدو خواپه پامیر اوواخان کښې په عمومی ډول(شرقاً اوغرباً) ده،مگر د اشکاشم وکلی ته نزدې ناڅاپه خپل دگرزید و اوبهیدو خطاړوی اودشمال وخواته بهیږی،ترڅوچه د (ویشخاری) وکلی ته چه په دی ناحیه کښې د آمو د در یاب خورا شمالی نقطه ده، رسیږی . د آمودریاب چه دخپلی منبعی څخه تر ویشخاری پوری دیومهم سیلاب شکل مومی ، دپامیر واخان، جرم، بدخشان، درواز، افغانستان اوروسیې دجگوغرو ترمنځ ې ژوری تنگناوی جوړې کړی او خپل مسیر یې ترسیم کړی دی آمو د تقریبا (۱۵۰) کیلو مترو په واټن چه اشکاشم دویشخاری څخه جلاکوی دزرو متر و په اندازه خپل جگوالی لږ و ی .

( داشکاشم ۲۵۹۰متره دسیند له سطحی څخه او و یشخاری ۱۵۰۰ متره دسیند له سطحی څخه جگوالی لری.)

دآمو دریاب تر ویشخاری وروسته دجنوب غرب خوانیسی اوتر هغه ځایه پوری چه د کوکچی دریاب ورسره یو ځای کیږی تراوسه لادبدخشان، ینگی قلعه اوروستاق په غرنیو مخکو کښې بهیږی اوبیا دپښتنی اوروسی و شگلنو دښتو او ډبرینواوترادو ځایوته ځی او ترهغه ځایه پورې چه د (کافرنهان ) دریاب دشمال له خوا په آمو گډیږی اوپکښې لویږی ، په هغه مسیر کښې چه ترویشخاری وروسته یې تاکی کوم تغیر نه پیښوی، مگر ددې معاون دیوځای کیدو او اتصال تر نقطی وروسته دآمودریاب دشمال غرب دغرب وخواته اودتاشقرغان، دولت آباد اوخمیاب ه دښتو کښې بهیږی اود خماب (خمیاب) څخه وروسته چه بیخی د پښتنی خاوری سره خدای پامانی کوی اوسره جلاکیږی دگرزېدو خط یې دشمال او شمال مغرب وخواته وی اوداوزبکستان دشگلنو ځایو تر تهریدو وروسته دارال په جهیل کښې توئیږی .

دآمو دریاب په خپلې بری برخی کښې ځینی معاونین لری چه دده په شان دپامیر دیخچالو اودپښتنې بدخشان او روس دغرو دلړه څخه سرچینه اخلی، آمو دلوی سیلاب او غرنی در یاب شکل لری، بهیده یې خورا سریع دی، ددریاب د اوبو رژیم داسی دی چه بهیده یې په دوبی طغیانی مگر په ژمی سست وی.

هغه مهم معاون دریابونه چه دپښتنی خاوری څخه دآمو وخواته بهیږی اوځی دکوکچی اوقندوز دریابونه دی، دپښتنی خاوری دشمالی برخو یوشمیر نوردریابونه هم دآمو و خواته ځی لکه دبلخ اوبه اوسپینی اوبه او داسی نور . مگر داوبو دحجم دلږوالی لامله نن دمخه تردې چه آمو ته ورسیږی پر لاری وچیږی پخوا چه دایشیا دبراعظم په دی ناحیه کښې ډېر بارانونه اورېدل ټول دآموسره یوځای کیدل اودارال یاکسپین وخواته بهیدل دآمو دښې خوا معاونین چه دروسیې دخاوری څخه (دویش خاری ترکلی وروسته) دآموسره یوځای کیږی دقزلسو، وخش(یاسرخاب) دکافرنهان دریاب،د سرخان دریاب اودزر افشان ددریابه څخه عبارت دی. ددې ډلی څخه خور امهم ې دزرافشان اوسرخاب (یاوخش) دریابونه دی .

دزرافشان دریاب (٦٥٠) کیلومتره اوږد دوالی لری او دزرافشان دیخچاله څخه منبع اخلی اودآمو و خواته بهیږی په دوبی چه داوبو مقدار زیات وی تر (٦٠٠) متر مکعبه پوری په یوه ثانیه کښې رسیږی دزرافشان اوبه آمو ته رسیدلای نه شی اودسمرقند دمنطقی داو بولو دپاره لگیږی. دوخش (سرخاب) دریاب چه اوږدوالی یې ٦٨٦ کیلومتره دی، ډېرې اوبه لری اودآمو خورا لوی معاون گڼل کیږی .

هغه دریاچی چه وخش یې تشکیل کړی دی ټول یخچالونه دی، په دوبی طغیانی کیږی او په یوه ثانیه کښې (٤٠٠٠) متر مکعبه اوبه دهغو څخه دآمو ودریاب ته توئیږی، د(وخش) دیوځای کېدو ترځای ورو سته چه تقریباً دقندوز ددریاب دلمنی په مقابل کښې صورت مومی دآمو دریاب دیوه لوی در یاب شکل نیسی اودره یې پراخه کیږی اوددریاب دبهیدو گړندوالی خورا تقلیل مومی، سره له دې ډېر مقدار دهغوموادو څخه چه دریاب یې دغرو څخه دځانه سره راوړی، او به یې نقلوی اوپه یوه ځای کښې یوه جزیره تشکیلوی اوبل ځای دهغه پواسطه زیات سولوی اودخیل توازن گراف دارال د جهیل دسطحی په نسبت کښوی، دآمودره ترگلف دمخه ( د۷۰۰ څخه تر ۲۰۰۰)مترو پوری پلن والی لری او ددی تنگنا تر تهریدو وروسته ددې سو ریې تر (٥) کیلومترو پوری رسیږی ، نودآمو ددې دپلن والی اوپراخوالی له سببه دی چه د دریاب جگوا لی دطغیان په وخت کښې دیوه متره څخه تر دوو مترو پوری رسیږی اوبس .

سر بېره پردې دآمودریاب (په‌تېره بیاترګلف وروسته) تل خپل مسیرته‌تغیر ورکوی اودخپلی‌دریې ښیې‌خنډې په عمومی ډول ویجاړوی اوورانوی ہی اومواديې وکینی خندی ته پرې باسی اودا دآمو ددرې لوی پراخوالی او دبستر زیات تبدیل اوتغیر دیوې خوا ددریاب جریان ترخمیاب ورو سته ډیر ځل په شوورو اولویو کانالو وېشی چه هریو د اوزدو جزیرو پواسطه یووخت‌یودبله څخه‌جلا اویووخت یودبله سره یو ځای کیږی اودبلی خوا دکرهنی دمخکو ترتیب‌اودکلو ودانیده (په تېره بیاد دریاب پر ښیې خنډې باندی) ئې خورا ګران اوخطرناکه کړی دی. اوداخطر دآمو ددرې په‌کښتو برخو کښې (په‌تېره بیاددلتا په‌پورته برخوکښې‌ئې) زیات لیدل کیږی، ځکه‌دبستر تغیر په هغه ناحیه کښی غالباً هرکال پېښېږی دغه‌سبب‌دی چه‌دآمو ننیې‌دلتا تر (۱۱۰۰۰) کیلومترو مربع زیاته مخکه نیولې ده. ددریاب د بستر ددغو تغیراتو لامله ؤ چه‌دآمو در یاب تر۱۸ پیرۍ پوری دکسپین دبحرې و خواته بهیدی او د(اربوی) ددرې پواسطه دبالقان په‌خلیج کښې توئیدی. نن‌ئی‌دبهیدو خپل خط سیرته د خیوا له شماله څخه تغیر ورکړی او دارال و جهیل ته رسیږی د آمو د مصب داتغیر دکسپین څخه و ارال‌ته غالباً دتاریخی ز مانو په شهادت په تېره بیا دازبوی (دآمو پخوانیې دره) دوچی درې دوجود لامله او همدغسی د (ساری کمش) دکښتی حوزی‌وجود دخیوا دښار په غرب کښې ثابتیږی.

دمرغاب دریاب: دمرغاب دریاب په اولو وختو کښې دهغو

دوو دریاچو څخه عبارت وچه‌د۳۵ درجو دعرض‌البلد له دواړو خواو څخه تقریباً د (۲۵۰۰) مترو په جګوالی منبع اخلی او دواړه دغرب وخواته بهیږی ترڅو چه‌دچارسدی په وادی کښې سره یوځای اومرغاب تشکیلوی.

دمرغاب دریاب په‌خپلو پورتنیو برخو کښې چه دچخچران او فیروز کوه منطقه ده (یعنی د سفیدکوه د شمالی لمنی او د تیربند دجنوبی لمنی ترمنځ) بهیږی، نظر و هغی ځورتیا ته چه په‌دی ساحه کښې دجنوب شمال له خوا شته‌دشمال وخواته ښوئیږی او خپله دره ئې‌د تیر بند په جنوبی پای کښې کیندلې ده، د مرغاب د بهیدو خط دنیاز خان ترکلاو دشاه‌مشهد ترکلی پوری (په‌عمومی‌ډول شرقاً اوغرباً) دی، مګر تردې ناحیې و روسته د تیر بند د لرې جنو بی خا نګی ورو ورو له منځه‌ځی او نسبتاً پراخه او هواره ساحه دمرغاب دپاره پیدا کیږی. دریاب دخپل حرکت او خو ځېدو خوا دشمال او شمال مغرب وخواته غوره کوی د نسبتاً پراخو حوزو او تنګناو پرمخ و(بالا مرغاب) ته رسیږی.

مرغاب دخپلی منبعی څخه د(بالا مرغاب) تر درې پوری، د یر معاونین چه دسفید کوه او تیربند څخه سرچینی اخلی پیدا کوی او داوبو مقدار ئې زیاتیږی، مګر دریاب په پورتنیو برخو کښې دکرهنی دپاره زیاته ګټه لاس ته‌نه‌راځی بلکه دمخکو دخرابوالی اوداچه ډېرینی مخکی دی‌ډېرکلی‌هم پرپورتنیې درې باندی ودان‌شوی‌نه‌دی، که‌څه‌هم دبالا مرغاب تر رسېدو دمخه دریاب‌دره خورا سره وره اود ګټې اخیستلو وړده مګر دریاب دکښته‌والی په سبب چه نه شوای کولای دمخکو ډېری برخی اوبه کړی اودلوړلو وسایل ئې هم نشته، دډرې د خندې مخکی لکه‌د(لالابای) دښت اوداسی نور شاړې پرتې‌دی، مګر دبالامرغاب اومرو چاق د وادیو تر منځ چه‌په شمال کښې‌ئې دروسیې وسرحداتو نزدې پرتې دی، نه یوازې دمرغاب ددریاب خندې بلکه نسبتا پراخې‌ساحې ددریاب داوبو له برکته شنی شوی دی، په پورتنیې یاده شوې وادی کښې دمرغاب په‌پای کښې د تقریباً (۳۰) کیلو مترو په اوزدوالی دافغانستان او روسی ترکمنستان ترمنځ سیاسی سرحد جوړوی دمرغاب دریاب پس له دې چه دمرو چاقه څخه تېر ېږی دخان دغونډې‌ کلی‌ ډبنې‌ خندې‌څخه چه‌په‌دی ناحیه کښې‌دافغانستان او روسیې‌تر منځ دګډ سر حد وروستنی کلی دی هم تېرېږی او دترکمنستان د دښتو څخه د مرو وخواته بهیږی، دمرغاب ددریاب دوه‌مهم معاونین یعنی کوشان او کشك چه‌دبادغیساتو (د سفید کوه دشمالی لمنی) څخه سرچینه اخلی، پس له دې چه دپښتی سرحداتو څخه تېرېږی د مرغاب‌ه سره یوځای کیږی اواوبه‌یې دوچنده کوی، په تیره بیا پس له‌دې چه د مرغاب خورا مهم معاون یعنی دکشك دریاب چه نسبتاً کافی او به هم لری، دپنج ده اومرغاب و منطقوته را بهیږی.

دکشك دره چه په خورا پخوانو زمانو کښې (د مرجیان Margiane) او (اری) د پخوانو و لایتو ترمنځ دتګ وراتګ لاروه نن هم هغسی اهمیت لری، ځکه برسیره پرپخوانی خط سیر دماورای کسپین Transcaspien د اوسپنی دلاری یوه شاخه‌ګه په جنوب کښې ترپښتنی سر حده پوری راغلی ده، مرغاب پس له‌دې چه دپنج ده او مرو واحه اوبه اوزرغونه کوی‌نویوه لوبه دلتا تشکیلوی اوبیا دقراقرم ددښت په‌شګو کښې جذ بیږی،له‌دې‌جملې‌څخه‌په‌پښتنی‌خاوره کی دمرغاب له‌دریاب اودمرغاب دمعاونینو څخه لږه ګټه اخسته کیږی، مګر په ترکمنستان کښې د مرغاب پردریاب اوده پر معاونینو باندی ډېر بندونه ودان شوی او دکر هنی دپاره زیاته ګټې ځنی اخلی، غلې، پنبه اودحیواناتو روزنه‌دمرغاب د درې د حاصلاتو او مهمو کارو څخه ګټل کیږی مرو چه د قراقرم په‌سوځوونکې‌بیدیا کښې د جنت په‌شان یوه بېشه ده ځواره ورانه شوې اوبیا د مرغاب پردلتا باندی ودانه‌شوی‌ده د(بهرام علی) دشاوخوا کنډوالې چه دپخوانی مرو بقایا ګڼل

کیږی ددلتا په پورته برخه کښې تر (٤٠) کیلومتر مربع زیاته مخکه نه لری .

دهری رود دریاب : هغه دوې دریاچې چه ددوی یوځای کېده په لومړی سر کښی هری رود تشکیلوی د (سنګل آب) او (سرجنګل) په نامه یادیږی اود (٤٠٠٠) متروپه جګوالی د کوه بابا دغربی لمنو څخه سرچینه اخلی د (سنګل آب) او (سرجنګل) تریوځای کېدو وروسته چه ددولت یاروکلی ته نزدی صورت مومی دهری رود دریاب دسیاه کوه اوسفید کوه دجګو لړو ترمنځ چه دشمال اوجنوب څخه دیوه لوی دیوال په شان دره چاپیروی بهیږی اودمغرب وخواته ځی دهغومعاونینو په ډله کښی چه دسیاه کوه اوسفید کوه څخه دهری رو دوخواته راکښته کیږی د (تګاو ایشان) دریاب ترټولولویدی او تقریبا ددوو سوو کیلو مترو په اوږدوالی دهری رود وکیږی څنډی ته په موازی صورت بهیږی اوپه پای کښی د (اوبه) دښار په غرب کښی هری رود ته توئیږی داوبه ترکلی وروسته هری رودپه موقتی پول مستقیم خط (شرقاً اوغربا) پرېږدی اوهغه کوزوالی چه دغرولړ په دی ناحیه کښی تشکیل کړی دی تعقیبوی مګر د (بوریاباف) دکلی تر رسېدو دمخه دیوې خوا دهغی ساحې پراخوالی چه په یادران کښی جریان لری خورا زیاتیږی اودبلی خوا ددریاب دسیرخط بېرته دعرض البلد دخطو په موازی یعنی (شرقاً اوغرباً) امتداد مومی په حقیقت کښی هری رود د (اوبه) دتنګنا تر تېرېدووروسته دهرات وزرغونې ناوې ته ننوزی اودیوه نسبتاً مهم اوآرام دریاب شکل نیسی، دهرات ددرې د کرهنی دبډایی تاریخی شهرت دهری رودد ریاب له برکته دی، دهرات ښار چه په تاریخی زمانو کښی (٦) واره وران شوی اوبیا ودان شوی دی یوازی دهغی ناوې دزرخیزی اومهم جغرافیائی موقعیت له سببه دهری رود ددرې زیات پراخوالی دهرات په وادی کښی دیوې خوادسفید کوه اوسیاه کوه دلمنو ځانګو دور کېدو له سببه دی چه پخوایی دره له نزدې څخه چاپیره کړې وه ،مګر دبلی خوا د ائتکال په عمل اودچابك والی په قوت پوری اړه لری چه دنسبتا پستو ډبرو یعنی شګلنو ډبرو (Gris) او کانګلو میر (Conglomerat) څخه تشکیل شوی دی دهرات په لویه وادی کښی اویا دښار په خپله حوزه کښی دهری رودله دریابه څخه چه دښار دجنوبی برخی څخه تېریږی ډېر کانالونه اوولې جلاشوی او داوبو لوپه چارو لګیږی .

هری رود په خپله پورتنۍ برخه کښی ډېر سرعت اوځوړند والی لری، لکه چه دخپلی منبعی څخه داوبه ترکلی پوری دخپل جګوالی څخه تقریبا (٢٥٠٠) متره جګوالی لښزه وی (داوبه په کلی کښی ١٢٦٨ متره جګوالی لری) مګر دهرات په وادی اودغوریان په دښتو کښی ئی سرعت لږیږی او په خپل مسیر کښی کوچنۍ جزیری او پیچونی او کاږه واږه ځایونه تشکیلوی اوهمدغه چه دغوریانو دښار دشمالې څخه تېر شو، نو د خپل سیر خط دشمال غرب وخواته اړوی اودغوریان په شګلنو او ډبرنیو دښتو کښی بهیږی، هری رود د کوشان په ښار کښی دسیندله سطحی څخه تقریبا (٧٤٠) متره جګ دی هغه دره چه دریاب خپل وروستنی مسیر اویا بستر پکښی جوړ کړی دی ،څو کیلومتره سور (عرض) لری دهری رود دسیرخط د کوشان لکلی څخه تر اسلام قلعی پوری دشمال مغرب وخواته دی ، مګر تر اسلام قلعه وروسته ناڅاپه دشمال وخواته بهیږی اودتر کمنستان وکښتو اوشګلنو مخکوته پاینت مومی مګر د (کوشان) او (تومان آغا) د کلو ترمنځ چه تقریبا د کوشان دکلی په (٣٠) کیلو متری کښی دی خپل مسیر بیخی په پښتنی خاوره کښی نیسی، مګر د (تومان آغا) تر کوچنی کلی وروسته چه دهری رود پر کیڼی څنډی اودایران په خاوره کښی پروت دی اودذوالفقار دکلی څخه وروسته چه په پښتنی خاوره کښی د (٥٠٠) متروپه جګوالی دسیندله سطحی څخه پروت دی د پښتنی اوایرانی خراسان دمخکو ترمنځ ددریاب مسیر سیاسی فاصل حد تشکیل کړی دی تقریباً (١٥٠) تر (١٧٠) متروپه واټن چه د کوشان کلی دذوالفقار څخه جلاکوی اوهمدغسی دهری رود مجری دتوپوګرافی اوطبقات الارضی له نقطه نظره په ډېرو مختلفو مخکو کښی کیندل شوی اوترسیم شوی دی، دهری رود دره کله دژوری تنګنا څخه عبارت ده چه دطبقات الارضی ددوهم یادریم عهد په آهکی ډبرو کښی کیندل شوی ده اوبووخت ددریاب مسیر په هغوموادو کښی چه دطبقات الارضی دځلورم عهد دلومړیو وختو دجېړیل په تل کښی لاندی کښینستلی دی ترتیب شوی دی ، په حقیقت کښی دهری رود دره د کوشان اوذوالفقار ترمنځ بلکه وروسته ترهغه هم دغو تنګناوو اوحوزو څخه عبارت دی ، څکه د (سیاه بوبك) او (قره داغ) او (بګتال کوه) دهانګو په دمخه را وتلو برخو کښی نو موږې دره دتنګنا شکل لری اوبیا پراخه او پلنه شوې ده .

(دښیادخان حوزه ، دجم حوزه، دزورآباد حوزه دکمان بهشت تنګنا ،دذوالفقار تنګنا اوداسی نور ) دذوالفقار تردهانی وروسته چه دپښتنی خاوری دشمال مغرب په څنډه کښی پرتې دی دهری رود دتېریدو لار دشمال و خواته خلاصوی ، هری رود د (نجن) په نامه هم نومیږی اود اوږده واټن په امتداد کښی دایران اوترکمنستان سرحد تشکیلوی ، پس له دې چه دپل خاتون څخه تېریږی، دشوروی سرخس اوایرانی سرخس ترمنځ بهیږی اوپه پای کښی دخپل ننی دلتا په منطقه کښی دنجن په شمال کښی دترکمنستان په شګلنو دښتو کښی وچیږی .

هلمند : دکلا سیکو مولفینو په وینا هېرمند اودهغه ځای د وګړیو په قول هېرمند (Abondance - Mand) دوو کلمو

څخه تشکیل‌شوی اودپښتنی خاوری دخورالویودریابو څخه‌دی دادریاب‌دهزاره‌جات دغروڅخه دکابل ددریاب‌وسرچینی ته‌نزدې د (۳۸۰۰) مترو په جګوالی منبع لری اودجنوب غرب دغرب وخواته بهیږی‌اوزدوالی ئې دمنبع څخه ترمصبه‌پوری تقریباً زرو کیلومتروته‌رسیږی‌اویوه‌لویه برخه ئې‌دهزاره‌جات په‌غرو کښې‌ده دهزاره جات په‌دې ډبرینه منطقه کښې دهلمند در یاب سیلابی شکل لری اودیوې ډبری څخه‌په‌بله ډبره نښلی اودزمین داور وخواته ځی،په‌دې غرنیز ناحیه کښې څو کوچنی معاونین چه‌د واو رو داوبو څخه سر چینه اخلی ورسره یو ځای کیږی دهلمند جګوالی په‌ګرشك کښې(۸۷۸) متره دی ، یعنی په‌خپل لومړی نیمائی کښې‌تقریباً (۳۰۰۰) متره کښته شوی‌دی، هلمند هغه‌وخت چه‌د ګرشکه څخه تېریږی دخپلی‌دریې دپورتنیز برخی سیلابی‌وضعیت پریږدی . که څه هم سرعت ئې زیات دی مګر سره له‌دې نسبتا دیوه لوی دریاب شکل ئې نیولی‌دی، دره ئې خورا پلنه ده او تقریبا ( ۷۰۰ ) متره سور لری . مګر دآب خیزی‌ سره اوداوبو دډیروالی‌په‌وخت ئې پلن والی زیاتیږی اوهلمند همدغه‌چه‌د ګرشکه څخه تېریږی تقریباً د ګرشك دښار په (۵۰) کیلو متری واټن کښې د ارغنداب دریاب چه دهلمند خورا لوی معاون‌بلل کیږی‌ورسره یوځای کیږی ، دارغنداب دریاب دقندهار دشاوخوا څخه‌تېریږی،مګردریې نور معاونین‌ئې چه‌دترنك،دینج‌جوی،محله‌جات اوداسی‌نورو منطقو دټولو اوبو څخه پیدا کیږی ورسره یوځای کیږی اوبیا د بست دتار یخی قلعی په‌پای کښې، ددرو کیلومترو په‌واټن دهلمنده سره‌یوځای کیږی دارغنداب دادریې معاونین د(پوری‌،ترنك اوارغستانه ) څخه عبارت‌دی، دارغنداب اومعاونینو اوبه‌ئې بی له‌دی‌چه‌د کال دژمی په‌موسم دهلمنده سره مرسته و کړی په‌نورو فصلو کښې څه‌مرسته ورسره نه‌سوای کولای ، ځکه داوبو ډېر مقدار ئې په‌نورو موسمو کښې د کرهنی د اوبولو اوپنه کولو د پاره لګیږی . دقندهار دولایت‌خپروبی ، زر غونډه اوشنه باغونه دارغنداب داوبو له‌برکته‌دی‌دارغنداب دریاب نسبتاً خورا تیز بهیږی اودآب خیزی‌ په‌وخت کښې هغه وخت چه‌اوبه ئې دیوه متره څخه جګی‌شی پوری و تل‌ورباندی‌خورا ګران وی .

دهلمند دریاب پس له دې چه ارغنداب ورسره یوځای شی دخپلو خوځېدوخوادشمال‌شرق څخه دجنوب غرب وخواته اړوی اوتقریباً په‌مستقیم خط دجنوب‌و خواته بهیږی ،دهلمند دره‌چه‌په شمالی برخه کښې‌دمرګودغلات دځنډی‌پواسطه اودجنوب‌وخواته دشګو اوریګودغونډیو‌پواسطه چاپیره شوې ده نسبتاپراخه‌ده، مګر دمیانه تر بندر وروسته‌ناڅاپه‌دمغرب و خواته جریان‌مومی تردې نقطې ور و سته په هغه برخه کښې چه دریاب په مستقیم ډول دهامون هلمند دکښتی منطقی‌وخواته‌بهیدلی دی اوددیرشو کیلو متروپرمخ‌تګ‌نه وروسته هلمند دغرب وخواته د لومړی خوځېدوخوانیسی یعنی‌دجنوب‌غرب وخواته بهیږی ، ددرې‌دځنډو وضعیت یوډول نه‌وی ،شمالی خوا چه‌د (مرګو) دغلات د ځنډی ادامه ده په‌خورا برجسته اوښکاره صورت پر دریاب باندی پرته‌ده ، کینه ځنډه‌ئی دهغو شګلنو غو ندیو څخه چه‌لږ جګوالی‌لری تشکیله‌شوې‌ده ، دهلمند دخوځېدو دخواتغیر په‌دې منطقه کښې‌زیات اهمیت‌لری‌په‌دې برخه کښې چه‌دهلمند دریاب (شرقاً اوغرباً) امتدادلری ددریاب‌پر کینې‌ځنډی باندی‌دپخوانو اور غورځوونکو غر و نخښی پاتی‌دی اود( خان نشین دغره ) په نامه یادیږی ، ددی اور غو ځوو نکی غره وجود په‌دې منطقه کښې د یوې خوا د یو ې وچې درې و جود د هلمند د ( شرقاً — غرباً ) دری‌په امتداد کښې، د بلی خوا ښکاره کوی چه دهلمند دد رې دغه برخه د ( تکنو تیك ) دره ده ځکه دمعاونی دریې استقامت له منخه‌ځی اوهلمند او دهلمنددره اوهمدغسی داور غور ځوونکو وجود پریوې ما تیدنی باندی په‌دی منطقه کښې دلالت کوی.دهلمند سینددسبز ترقلعی وروسته دجنوب غرب وخواته‌ځی اود پورتنی خواجه علی ترکلی‌پوری دخپلو خوځېدو همدغه خوا تعقیبوی ،مګر پس له‌دې هغه‌منطقه چه لوی قوس پکښې تشکیلوی ، ښیږ خوایې د مرګو د فلات څنډو او کینه خوایې دګرمسیر او پشت رود نسبتاً کښتو ځایو نیولې ده .

داعظم خان ترقلعې وروسته چه ددریې دپای جنوبی نقطه ورته نزدې پرته ده دهلمند رود دکمال خان تر بندره پوری دشمال غرب دغرب وخواته او پس له هغه بیخی دشمال‌وخواته بهیږی ، پس له‌دې چه هلمند دهلمند ددریې په کښته برخه کښې وګورو، لازمه‌ده دهغې منخنیږ دریې پرپورته خواوچه‌دګرشکه څخه شروع کیږی او د اعظم خان‌دکلی پەخوا کی تما میږی هم نظر واچوو ، دهلمند رود دګرشکه څخه تردې ځایه پوری چه‌دافغانستان جنوبی‌ناحیه ده یولوی قوس ترسیموی او درمئې دتوپوګرافی لا مله ددوو مختلفو فلا تو ترمنځ (دمرګو ددښت‌شمالی فلات‌اودګرمسیر او شګلنو ځایو جنوبی منطقی ) فاصل حد تشکیلوی . د شمالی فلات څنډی عموماً جګی اود هلمند پردریې باندی تقریباً په عمودی ډول ولاړی‌دی ، ددریاب په کینه‌خوا کښې دریګی غونډیو‌پرمخ تګ ددریې وځنډوته نسبتاً پوخ شکل ورکوی‌دهلمندرووددخپلی‌دریې په کښتو برخو کښې داعظم‌خان‌تر کلی‌وروسته دکمال خان تر بندره پوری دپخوا پەشان دشمال اوشمال مغرب و خواته بهیږی ، مګر تردې‌بندروروسته‌چه‌ناڅاپه خپل دسیر خط دشمال وخواته‌اړوی‌نودهلمند ددریې داتغیراوخوځېده‌ئې دشمال وخواته دمخکی دقشر دماتېدنو لامله ګنو ، ځکه هغه‌مخکی چه‌وینوئی دیوې کښتی منطقې‌په‌شان معلومیږی اوددې کښتی منطقې‌لویه

ضلع شمالاً اوجنوباً خواوی لری ، دهلمند لو پدلی هامون‌هم همدغه خوا لری .

دهلمند رود چه‌د رودباره څخه‌دې خواته دخپلی پخوانی‌ر دلتا په‌منطقه کښې ننوتلی‌و، دسیستان تربند ورو سته دخپلی ننی‌ر دلتا په‌منطقه کښې ننوزی اودې دریاچې داوبو لویه‌بر خه‌ئې وارپه‌وار په‌مختلفو کلو کښې پرځان باندی ویشی ، برسېره له‌دې دهلمند اوبه پر کوچنیو دریاچو اوطبیعی اومصنوعی والو باندی ویشلی کیږی اوددلتامنطقه زرغونوی ، دهلمند رودغیر منظم دریاب دی اود اوبو رژیم ئې خورا متغیر دی لکه چه‌په عادی‌وختو کښې یه‌یوه‌ثانیه کښې(٦٠)متر مکعبه‌اود آب‌خیزیو په وخت کښې په‌یوه ثانیه کښې د۱۵۰۰ څخه‌تر ۲۰۰۰ متر و مکعبو پوری اوبه‌لری ، مگر په‌استثنایی‌ډول په۱۸۸۵ کال‌ئی او به په یوه ثانیه کښې تر (۲۰) زرو مترو مکعبو پوری هم ورسېدې . طبیعی‌ده چه د دریاب داحالت ډېر تبدلات اوتغیرات دخپلی دلتا په‌منطقه کښې‌واردوی په‌ځیتو وختو کښې یوه‌دریاچه اوپه نورو و ختو کښې د لو یی بر خی یو بستر گر زی . دا تغیرات درود دگاونډو و گړو په‌ژوند کښی زیات اهمیت لری. ځکه په‌هغه متطقه کښې‌چه‌اقلیم ئې و صحرای اعظم ته‌ورته‌دی نویوازی د ژوند د پایښت د پاره دهلمند اوبه دی . دبلی خوا هرکله چه‌دهلمندرودهغه تغیرات‌چه‌په‌جریان کښې‌ئې‌په ورو ستنی‌ر برخه کښې‌پېښیږی کله‌کله دافغانستان‌اوایران‌دملکتو ترمنځ ځنی مشکلات پېښوی لکه چه‌په ۱۸۹٦ کال‌پس له‌دی چه دافغانستان اوایران سرحدونه په‌دې ناحیه کښې دهلمند دلتا دوه‌درې کاله پخوا تاکلی شوی او دریا چه ددواړو دولتو خورا لوی سرحد پیژندل شوی و. دهلمند رو دناڅاپه خپل جریان ته‌تغیر ورکړ اوددې پرځای‌چه‌دخپلواوبو لویه‌برخه دسکسار درود پواسطه وهامون ته‌ورسوی دبریان رودیې خپله لویه دریاچه کړه ، نو دسرحد خط داو بو د ډېر وا لی په سبب د خپل ځایه څخه تغیر کاوه .

دهلمند رود په خپلو روتنیو بر خو کښې کله کله داسی یوه‌دره پیدا کوی چه‌دشاوخوا د منطقو له سطحی څخه جگه او پو رته وی ، داهم له دې سببه دی چه‌دباد چلېده د (۱۲۰) روځو په‌موده کښې ددې‌دشاوخوا شگی‌ورو ورو له‌منځه وړی اویواځی هغه‌برخه چه‌دهلمندداوبودلنده‌بل اولوندوالی پواسطه نسبتاً ډېر ثابت‌شوی‌دی پاته کیږی طبیعی‌ده هغه‌منطقه چه‌داسی درې ولری ددریاب دبستر تغیراو تبدیل پکښې ډېرآسانه وی.

نور دریابونه چه دهامون هلمند په‌حوزه کښې شامل‌وو او دهامون هلمند په‌جهیل کښې‌توئیږی او یائی‌دهغی‌خواته بهیږی په‌عمومی‌ډول دهغو اوبو څخه عبارت دی‌چه‌دزمینداړو، پشت‌رود او غوراته څخه‌را کښته کیږی .

دسند ددریاب حوزه : دسنددریاب حوزه چه‌دکابل ددریاب

ستره حوزه او دهغه د معاونینو حوزه اوهم د کرمی گوملی او طوخی ددریابوحوزې هم‌پکښې شاملی‌دی ددې مملکت په‌شرقی او جنوب شرقی برخه کښې پرتی دی او داقلیم لامله د پښتنی خاوری‌دخورا ډېرولندو برخوڅخه‌دی. دکابل دریاب او معاونین ئې د کرهنی له مخی ددې مملکت د خو را مهمو او بو څخه گټل کیږی او ددې حوزې په ا قتصا دیاتو کښې خورا مهم رول لوبوی .

دکابل دریاب : دکابل دریاب د( اونی دکوتل ) دشاو خوا څخه تر ۳۵۰۰ مترو په‌زیات جگوالی منبع اخلی ، په لومړی سر کښې څو دریاچی چه د(سنگلاخ) او(صدمرده ) د غرو څخه دسر چشمو په شاو خوا کښې منبع اخلی د کابل ددریا به سره یو ځای کیږی ، لکه‌چه دسر چشمو د کلی په شاو خوا کښې دمهم سیلاب وضعیت مومی اودسرچشمو څخه تر جلریزه پوری دسنگلاخ در یاب (چه دسنگلا خ دغره د شرقی برخی اوبه اوه پغمان دغربی‌لمنو یوه برخه‌اوبه‌راښکته کیږی) دکابل د دریابه سره یوځای کیږی دکابل‌ددریاب دخوځیدو خواپه تقریبی ډول ( غرباً- شرقاً ) ده او ددې منطقی څخه چه تقریباً د (۲۵۰۰) مترو په‌جگوالی پرته‌ده ترکوته اشرو پوری په پور تنی میدان کښې چه دتخت حصارك او صد مرده دغرو تر منځ پر وت دی بهیږی او میلان ئې دجنو ب شرق وخواته دی ، مگر دکوته اشرو څخه دشهاب الدین ترکلی پوری چه دغزنی او کابل سرك دلته دکابل پر دریاب باندی تېرېږی ، دکښتنی میدان او نرخ په‌وادی کښې دسیرخط ئې تقریباً شمالی او جنوبی دی ، دنرخ اوسنگلاخ‌دریاچی‌چه‌پخوامووویل دکابل‌ددریاب دپورتنی‌ر برخی لوی معاون دی چه د کښتنی میدان په منطقه کښې د کابل سره یو ځای کیږی .

دشهاب‌الدین ترکلی وروسته د کابل دریاب چه دمیدان په پراخه دره کښې بهیږی ، بېرته وخورا ضعیفی درې ته د قروغ دغره په‌شرقی لمنو کښې چه‌دللندردتنگی په‌نامه نومیږی ننوزی اوترهغه وخته پوری چه په گلباغ کښې دچهار دهی وزرغونی حوزی ته رسیږی په‌هغه تنگی کښی جاری دی . د کابل دریاب هرکله‌دللندر په‌تنگی کښې‌چه سرترپایه دقروغ دغره په جنوبی لمنو کښې بهیږی نوقوسی شکل ترسیموی چه‌دجنوب غربه څخه و شمال شرق ته‌متمایل وی اودچهاردهی په میدان کښی‌وشرقی څنډی ته‌ئی دگلباغ او گذرگاه تر منځ بهیږی او ډیری ولې ځنی جلا شو ی دی او ددې سیمی یوه لویه برخه زرغو نوی . دگذرگاه له‌تنگی څخه‌چه دشیر دروازی اوآسمائی‌دکوږوالی څخه عبارت‌دی د(گریز Griese ) او میکاشیست په ډبرو کښې

مجرا پیدا کوی او دکابل وښارته ور ننوزی او پس لەدې چه تقریباً دري کیلو مترە دښار په منځ کښې بهیږی دکابل دښار له حوزې څخه‌وزی اوشینی ته نزدی دلوګر د در یاب سره چه په دې منطقه کښې دکابل دد ریاب خورا مهم معاون دی یوځای کیږی ، دکابل دریاب‌دقابل بای اواوت خیلو په دښت کښې دامیرخان تر قلعې پوری غرباً اوشرقاً بهیږی .

تردې کلی وروسته ترشو کیلو مترو پو ری د شمال شرق دشمال‌خواته‌بهیږی او بیاتنګی غاروته ننوزی اودهغه ځایه څخه د(ماهی پر) د شلالو پو اسطه وزی اودپنجشیر ددریاب دملتقا ترنقطې پـوری دشما ل مشرق د شـر ق خواتـه بهیږ ی. د( د وآبـی ) تـر منطـقې ور و سته دسـر وبـی وو ادی ته ځی . دکابل دریاب د سروبی په وادی کښې او همد غسی په ورښمین تنګی کښې د جنوب شرق و خواته بهیږی او د مخه ردې چه ورښمین تنګی ته ور ننوزی د تیز ین خوږ ور سره یوځای کیږی اوترنوموړی تنګی وروسته دکـتـه سنګ اوبه‌ور سره‌یوځای کیږی . د وروستنی یاد شوی رودديوځای کهد و له نقطې څخه تر لغمـا نه پو ری چه د النـگـا ر او ا لیشنـگ در یـاب د لـغـمـان په شـا منګی کـښې ورسـره یو ځـا ی کیږی دکـابل له سیند سره ګډیـږی ، د کـابل‌په دریاب‌یوه نسبتاً پراخه وادی کښې بهیږی اوهغه سیلابونه چه کـلـه کـلـه دشمال په‌خوا کښې دلغمان دغرو څخه او دجنوب په خوا کښې دتور غـره څخه سرچینې اخلی‌دکـابل ددریاب‌و خواته راکښته کیږی . اودکـابل دریاب دلغمان ددریاب د یوځای کهدو له نقطې څخه چه دالیشنګ اوالینګار ددریاب دیوځای کهدوڅخه تشکیلیږی دبهسودو اولغمان په‌غرنی‌منطقه‌کښې بهیږی اوبیا دجلال آبـاد و ساحې ته ننوزی . دجلال آبـاد په میدان کښې دکـنـې دریاب دشمال له خوا ورسره یوځای کیږی، او بیاخپل تګ ته د(مشرق، جنوب مشرق) و خواتـه پـا ښت کـوی او دبـاسول په‌میدان کښې ځینې پیچومی اوکښې وزی تشکیلوی اودلالپورې وتنګی ته ننوزی اوبیـا دپښور و خواته بهیـږی اوپه‌پای کښې واټک ته نزدې دسند په دریاب کښې توئیږی .

لنډه داچه دکـابل دریاب د تقریباً (٤٦٠) کیلو مترو په واټن چه داونی دکوتله څخه تراټکه پوری وهی تر(۳۲۰۰) مترو زیات دخپل جګوالی څخه لږوی . دا دریاب دخپل سیر په خط کښې وارپه وار، دوادیو، حوزو او هغوتنګناو څخه چه هره‌یوه په مختلفو جګوالو کښې پر ته ده تهریږی .

لـکه : (دمیدان وادی، دلغمان وادی ، دجلال آبـاد وادی، دباسول وادی‌دللندرتنګی ، دګذرګـاه تنګی ، د تنګی غارو، تنـګی، ورښمین تنـګی ددرونټـی تنګی، دسرخ دیوال تنګی اود(لال پوری تنګی) دکـابل دریاب په‌خپلو پور تنیو بر خـو کښې چه دکـابل وښار ته رسیږی دمهم سیلاب شـکل لری مګر دتودوخی په موسم کښې ښی اوبه‌خورا لږی شی او هغه هم دپټیو او کښتواوبنونو داوبولو،دپاره پکـاریږی اولګیږی. دسرطان، اسد، سنبلی اومیزان په‌میاشتو کښې د کـابل ددریاب پورتنۍ برخه مخ پروچوالی وی، مګرد کـابل‌تر ښار وروسته ښرته اوبه پیدا کوی .

اوبیاښی دره هیڅکله وچه نه وی . ځکه دپنجشیر، لغمـان اوکـنـې دریابونه‌سروکـال کـافی اوبه لری‌اودکـابل د دریاب سره مر سته کوی . پرته د تنګیو په منطقو کښې په ډ یـرو وادیو اوحوزو کښې‌دکـابل ددریاب داوبوڅخه دکرهنې د پاره زیاته ګټه اخیستله کیږی . ځکه‌دکـابل دریاب غرنی دریاب دی‌اوبه هروخت کښې ځینی‌ولی اوناورونه‌ورڅخه کښلای‌شو او دکرهنې دپاره ګټه ځنی اخیستلای شو .

برسېره لەدې دکـابل له دریا به څخه چه ډیری تنګې او اوږې تیاوې لری، په ټپره بیاپه منځنۍ اوورو ستنۍ برخه کښې ښی چه دکـابل‌سیند پەهر وخت کښې کـافی او به لری د بربښنا دقوی په تولید کښې ورڅخه ګټه اخیستلا ی شو .

## ۲ـدافغانستان اقلیم:

افغانستان د خپل جغر ا فیـایی مو قعیت لا مله چه د شما لی عرض البـلـد د ۲۹ درجـو او ۳۳ د قیقو او ۳۸ درجـو او۳۰ دقیقو ترمنځ او دایشیا په بر اعظم کښې پـروت دی ، دنړۍ دبحرو سره خورا لږ تماس او ګـاو ندی توب نه‌لری که‌څه‌هم دمملکت دځینونقطو و اټن دسینده دومره لیری نه‌دی لکه هغه مځکی چه دهلمند ددریاب په جنوب کښې پرتی دی د۵۰۰ کیلو مترو په‌مستقیم‌خط دعمان‌دخلیج له غاړی او ساحله څخه فاصله لری مګر سره له‌دې دسیند د لنډې او معتدلی هوا له اغیزې اوبرکـته څخه ګټوردی ځکه هغه غرنی دیوالونه چه دبلوچستان په جنوب او شمال کښې دښتنی خاوری اوبحر ترمنځ پراته دی دسیند دمعتدلی اولنډې هوا د زیات اوږلـوی دمقدار نفوذ مخه نیسی . دبلی خوا هرکـله چه پښتنی خـا وره خورا غرنۍ ده نوپه مملـکت کښې هم داسی حو زی شته چـه شاوخوا ښی دغرو لرچاپېره کړې اوداقلیم له نقطه نظره څخه ددې منطقو وهری‌یوې‌منطقی ته‌ئی‌یوډول‌خصوصیت‌ور کړی‌دی .

که‌څه‌هم دافغانستان اقلیم په‌عمومـی ډول نظر دمځـکی دکړې دویش پر اقلیمی منطقو باندی بری بللای شو مـګر بیاهم نظرو هغو دلیلوته چه‌دمخه وویل شوو هره‌منطقه دخپلو طبیعی عوارضو لامله ځنی خصوصیات لری او داخصوصیات پـه عرض‌البلد پوری لږه‌اړه‌لری بلـکه دسیند‌دسطحی په جګوالی دمځکو وښ اوترتیب دغرو په لړ، په وادیو، دغرو دلـړ په لویدلی صورت اوداسی نورو شیانو پـوری اړه لـری ، لـکه دجلال آباد، کـابل، هرات اقلیم چه‌دری واړه ښارو نه تقر یباً

په ځیلو واټنو اولیږی والی کښې داستوا له خطه څخه یوډول دی (د۱۳٤ -۱و۳۵ درجو دعرض‌البلدترمنځ ) بیاهم ښکاره توپیر لری . ځکه ددریووارو ښارو جګوالی دسیند له سطحی څخه، دغرو دلوړدلی صورت، دهری حوزی محوطه اودهر یوه موقعیت دجوی جریاناتو دسیر دخط لامله خورا مختلف دی .

نودپښتنی خاوری داقلیم‌دمختلفومنطقوپه ټاکلو او تثبیت کښې لازمه ده چه برسېره پرعرض‌البلد نورمهم عوامل لکه (دغرو دلړ لوړدلی صورت، دطبیعی عوارضو وبش، په ټېره بیا دسیندله سطحی څخه‌جګوالی) هم وګورو،په‌دې ډول افغانستان نظر دمځکو وجګوالی‌ته پردریواقلیمی منطقو باندی و یشلای شو:جګی منطقې،منځنۍ‌منطقې‌اوهغه‌مځکی‌چه‌لږجګوالی‌لری .

۱ — جګی منطقې : دامځکی‌چه دغر نیو ځایو، دسیلا بو دبهیدلو ددرو اودریابو څخه عبارت دی په عمومی ډول آب وهوایی سره اوددوی دکال دمختلفو فصلو په تو دوالی او سوړوالی کښې‌فاحش‌توپیروینو اوبیاهم دامځکی‌نظرو جګوالی ته پر دوو ډلو وېشلای شو !

الف: غرنۍ‌ مځکی چه دسیند له سطحی څخه تر ۲٤۰۰ مترو زیات جګوالی لری ژمی یی ډیرځل د٦ میاشتو څخه تر ۷ میاشتو پوری پاینت کوی. دنورستان حوزه، د بدخشان یوه لویه برخه او هزاره جات په‌دې ډله کښې شامل دی (البته خورا جګی‌مځکی‌چه ٤۰۰۰متره اویاتردې زیات‌جګوالی لری اوداستوګنی وړنه‌دی خورا سوړاقلیم لری او ډېر ځل په‌دایمی واورو پټې دی )

ب : هغه حوزی چه د ۱۳۰۰ او ۲٤۰۰ مترو د جګوالی تر منځ پر تی دی لکه کابل ، غزنی ، کټواز اودبدخشان اوهزاره‌جات یوه‌برخه دکټر پورتنۍ‌دره اوداسی نورچه نسبتا معتدله‌آب وهوالری اودکال ځلور فصله‌یی مشخص اویودبله‌څخه ممتازدی ، دوبی‌یې دومره شدید نه‌وی اودژمی سوړوالی یی‌کله‌کله‌دصفر لاندی دشیلودرجوځخه هم‌کښته کیږی دباران یادواورو داورښت‌مقدار چه ډېرځل د ژ می اوپسرلی په‌لومړیو میاشتو کښی صورت‌مومی د۳۰۰ ملی‌متروځخه‌تر٤۰۰ ملی‌متروپوری اوکله‌کله‌تردې لازیات وی (دکابل دښار اوسط اورښت‌تقریباً (۳۰۰) ملی‌متره‌دی) .

۲متوسطی منطقی: هغه منطقی چه جګوالی یی متوسط اود۹۰۰ او۱۳۰۰ متروترمنځ‌وی، اودهندوکش شمالی لمنی اودغوراتودغرو لمنی دقندهارحوزه، دهری رود کښنی‌اومنځنۍ‌ دریږدداسی منطقو څخه ګڼلی‌کیږی ، دوبی یی نسبتاً تود اوژمی یی شدیدوی اودسوړالی درجه‌یی ترصفرلاندی له(۱۰) درجو خورا لږه کښته کیږی، ددې ناحیې اورښت تر۲۰۰ ملی مترو لږوی اوډېرځل دباران په ډول اوکله‌کله دواوری په‌ډول‌اوری، مګرواوره یې خورا ژرویلی کیږی اوله منځه‌ځی

۳- هغه‌مځکی چه‌لږ جګوالی لری! هغه منطقی چه د ۹۰۰مترو څخه لږجګوالی لری‌دفزیکی جغرافیا له نقطې نظره کولای شوچه ددښت دکلمی‌نوم ورباندی کښېږدو ،ځکه دیوې خوا ددداسی‌مځکوداورښت‌مقدارخورا لږدی‌اودبلی خوادشپی‌اوروڼی د تودوخی اوسوړوالی ترمنځ ډېرتوپیر شته ، د دوبی تودوخه خورا زیاته اوشدیده وی، اورښت دواوری په‌ډول خورا لږ اودباران په‌ډول هم‌خورا لږوی ، هغه‌منطقې چه‌په‌دی ډله کښی شاملی‌دی دمملکت دشمالی خوا دمځکو، د افغانستان دجنوب غرب دټولو پراخو منطقو اودکابل ددریاب د کښتی‌حوزې څخه‌عبارت‌دی ددې مځکو اوسط اور ښت د ۱۵۰ میلی مترو څخه لږدی (پرته‌دکابل دکښتو حوزو څخه چه دموسمی لندو بادو له‌برکته نسبتا زرغونی دی) دجلال آباد دښار اوسط اورښت ۱۸۵ ملی‌مترەدی ،حال داچه دمزار شریف (۱۲۰) اودچخانسور تقریباً ۵۵ ملی مترەدی .

بل‌عامل چه‌دمنطقو په‌اقلیم کښې لوی لاس لری اودیوې منطقې په آب وهوا کښې تغیر اوتبدیل پېښوی دجوی جریاناتو اوبادوڅخه عبارت‌دی چه‌نظر ددوو مختلفو مرکزو وپیدایښت‌ته دهوافشار دهغومځکو له خوا چه زیات فشار لری وهغو نقطوته چه‌لږ فشارلری چلیږی .

افغانستان دخپل جغرافیایی موقعیت لامله دهوادفشار ددوو مهمو مرکزو دلاری پرسربانندی پروتدی چه نظر دکال ووختوته دآنتی سیکلون (دزیات فشار مرکز) او سیکلون (لږفشار) شکل لخانته نیسی اودا دمختلفوفشارو دوه مرکزونه یودهند پربحر باندی دایر کیږی چه‌دنړۍ دخوراتودوبحرونو څخه‌دی اودځوسوو کیلومتروپه واټن د افغانستان په جنوب کښی پروتدی اوبل‌یی پرغربی‌سایبیریاباندی دایر کیږی چه دمځکی دکرې‌خورا زیاته سره منطقه ده .

البته‌جوی جریانات چه دفشارددې دوومرکزو ترمنځ‌متبادل کیږی پرافغانستان باندی بی اغېزونه‌دی ، مګر کله چه دمخه مودتودوخی اوسوړوالی په باب کښې داستواد خط دلیږیوالی اونږدې والی په‌نسبت ولیدل ، دلته هم‌هغه منطقوی خصوصیات چه‌دطبعی عوارضوڅخه پیدا کیږی زیاتی او مهمی اغېزې لری لکه‌سره له‌دې چه‌په‌ژمی په‌عمومی‌ډول په ټول افغانستان کښې بادد‌شمال له‌خوا دجنوب وخواته الوزی ، په بل عبارت هغه جریانات چه دمرکزی ایشیادزیات فشار له‌مرکزه څخه دهند دبحر دلږفشار و خواته په‌هغه وخت کښې صورت مومی، پښتنی خاوره‌هم جارو کوی مګر سره له دې هم طبیعی عوارض اوخصوصیات اوهم‌منطقوی جریانات ددې‌عمومی جریان دسیر په خط کښې ځینی تغیرات‌پیښوی چه‌کله‌کله د عمومی جریان

برخلافه منطقوی جریان پیدا کیږی یو له هغو څخه لکه هغه سویل او شدید باد چه په ژمی دهندوکش دشمالی لمنو څخه راولاړیږی اودپاردریا دمخکو وخواته لخی ، دا ډول خصوصیت دپښتنی خاوری دجوی جریاناتو په سیستم کښی خورا زیات لیدل کیږی اودامنطقوی بادونه هرچیری په مختلفو نومو یادیږی اودلږ اوډیرفشار دمحلی مرکزو د پیدا کیدو لامله دکال په مختلفو وختو کښې چلیږی .لکه هغه تودبادچه دقندهاردغربه څخه الوزی اود (چپه باد) په نامه یادیږی همدغسی د پروان باد چه دکابل په حوزه کښی دشمال له خوا را الوزی اودفراه اوچخانسور سیاه باد (توربار) دمزار د حوزی سیاه باد دسیستان دحوزی شمشیر باد،دجلال آباد دحوزې نایل باداوداسی نور،بلکه ددې بادونه څخه ځینی بادونه مخصوص نومونه هم نه لری.

دهغومنطقوی بادونه څخه یومهم بادچه ترپښتنی خاوری دباندی بی اغیزی هم په ترکمنستان اوهم په بلوچستان کښی لیدل کیږی دافغانستان دغربی حوزې د (۱۲۰) روځو بادی چه د (هرات اوفراه دوګړو په اصطلاح دباد غیساته څخه (بادخیزات) یعنی دهریرود ددرې پرشمالی مخکو باندی لګیږی ،مګر په حقیقت کښی زموږدشمالی سرحدو دخورالیری منطقوڅخه منشا اخلی اودفارس دخلیج اودعمان دبحرې دحوزې و خواته ګرزی اوځی دابادچه دپسرلی دلومړیو وختوڅخه ددوبی تر ورو ستنیو وختو پوری چلیږی نه یوازی دافغانستان د غربی منطقو پراقلیم باندی لویی اومهمی اغیزې ښندی بلکه د ائتکال خورالوی عامل یعنی دنومورومخکو دسطحی دتغیراوتبدل عامل دی .

## ۳ـ دطبقات الارض : ساختمان : د افغانستان د جیالوجی ساختمان په باره

ګښی لږ معلومات موجود دی . تراوسه پوری په افغانستان کښی په اساسی توګه، دجیالوجی په شا وخوا کښی هیڅ راز تحقیقات نه دی شوی . یوازی د۱۹۳۸څخه نیولی تر ۱۹۴۰ کاله پوری داپښتنی ، کرکر اودرهٔ صوف سکاره لرو نکی منطقی دیوه هیئت دخوا (جیولوجیکل سروی اف اندیا ) دتوپوګرافی او جیالوجی په لحاظ ګتلی شوی وی مګر د افغانستان نوری برخی په اجمالی ډول او دخارجی اوداخلی جیالوجستیانو دموقتی کتنو په اساس تحقیقات شویدی دغه نامتو جیالوجستان چه دلته ئې کتنی کړی دی په لاندی ډول دی :

۱ ګریس باخ ۱۸۸۲ - ۱۸۸۸
۲ ایچ ایچ هایدن ۱۹۱۱
۳ ایمیل ترینکلر ۱۹۲۴
۴ هغه جیالوجستیان چه د(انیلاندا کسپلوریشن ) په امریکائی کمپنی پوری مربوط دی .
۵ دکتور ترومپ دیو نودامدادی تخنیك په اداری پوری مربوط.
۶ یوشمیر داخلی جیالوجیستان .

الف:دمیتامورفیك تیږی دلرغونی زمانو په جیالوجی پوری مربوطی:

کومی زړی ډبری چه تراوسه پوری په افغانستان کښی پیژندلې شوېدی دکابل دشاو خوا غرونه دی لکه تور غر دکنړغرونه اونور دغه ډبری په دی ډول دی: دګنیس Gneis ډبره د ګلیمر شیفر Climmer shiefer ډبره دفلیت Phillite ډبره دکریستالین هغه آهکونه چه تغیرئی مو نـدلی دی ، غرانیتی ډبری او نورې . چه عموماً د « تغیرخوړلو ډبرو» یامیتامورفیك ترعنوان لاندی ذکر شویدی اوددغو ډبرو قدامت په قطعی ډول تراوسه نه دی معلوم .

پخوانیو جیالوجستیانو نومورې ډبری د کامبریان Cambrian اوحتی دارشایکوم Archaicum دعصر څخه په پخوادوری پوری ئې مربوطی ګڼلی دی . چه داعقیده دوروستنیو جیالوجستیانو له خواهم منلې شوې ده خود کتور ترومپ په ۱۹۵۰ کال کښی دخپلو تدقیقاتو په اثر اظهار کړه چه ذکر شوی ډبرې څومره قدامت نـلری اودویانیان Devonian په دوری پوری مربوطی دی بلکه ترهغه هم ځوانی دی خودفزیکی تاثیراتو اودیورا سیك (ددوآب سلسله) اولیګوسین د(سبزك سلسله) او دبر نی پالیوزو ئیـك دورو دآتشینو ډبرو دکیمیاوی غلیان په اثر دتغیراتو سره مخامخ شوی اواصلی خپل رنګ اوقواره ئی بدله کړې ده .

ددغی مدعا شاهد دهغو ډبرو ټوټی دی چه تراوسه پوری ئی تغیر نه دی موندلی اوددغو میتامورفیك داحجارو ترمنځ نظر ته راځی ددغو ډبرو ټوټی ددیونیان دډبرو سره ډبـر ورته والی لـری

ب : دپالیوزویك Paleozoic دزمانې ډبری :

۱ دیونیان Devonian د ذکر شویو ډبرو په مـنځ داسی طبقی پرتی دی چه دسلیټو نودډبرواودکریستالین دشیفرونو اوتور بخونو فوسیل لرونکو آهکونو څخه عبارت دی څرنګه چه دفوسیلونو ( متحجره حیواناتو) د وجود څخه پیژندل کیږی ذکرشوی ډبری (دیرنی دیونیان) په دوری پوری مربوطی دی .

دهندوکش اوکوه بابا د غرونو مهمی سلسلی د ګنیس کوارتستی ګرانیتی شیفرونو دډبرواودنورو میتامورفیکی ډبرو څخه تشکیل موندلی اودبرنیو ډبـرو دسلسلی ترمنځ د فوزولین دآهکونو دوجود په نسبت دغه ډبری د(یونیان پرم) په دوری پوری مربوطی دی اود ټولو جیالوجستیانو له خوا پـه نومورې دوری پوری مربوطی ګڼلی شوی دی. دحاجی ګك دکوتل څخه دجنوب وخواته اودبامیانو نه نیولی بیادغوربند تردرې پوری یوه دآهك طبقه چه دشیرپفرونو فوسیلونو درلودو نـکی دی لیدلی کیږی اودهمدی خط په اوزدو کښی دهمپتایت د (کانی وسپنی یوراز مرکبات) لوئی ذخیری ورسره مل دی چه دجبل السراج شمالـی خواته یولوی کان لخنی جوړ شوی دی اودا دهندوکش دجنوبی خط سلسله تشکیلوی .

۲ کاربونیفیروس Carboniferuos: دمسترهایدن دتدقیقاتو په‌اساس چه‌دبرنی هیرمند په دری کښئ کښې یـدی دپغمان اوکوه بابا دغرونو دسلسلی ترمنځ ډبری لیدلی شویدی داسی چه‌دتحتانی کاربون په دوری پوری مـربوطی دی دغی ډبری د(فیلیت‌شیست) اودمرمروخه عبارت‌دی چه‌د آق رباط په ٤٦ میلی کښې دگردن دیوال شمالی‌خواته پرتی‌دی .

آهکی قومسل‌لرونکی ډبری، اکثراً دفوزولین‌فوسیلونه لری اوداسی‌نظرته‌راځی چه‌تحتانی کاربون په دوری پوری مربوطی وی .

هغه‌ډبری‌چه دکاربون علیا په دوری پوری مربوطی دی او دپنډو آهکی تور بخنو ډ بروډفوقانی طبقی څخه متشکل دی توأم دپرو دوکتوس فوسیلونو اوسپریفرو فوزولین سره (وسطی‌طبقه‌چه دکورایستونو ، ملیتونو څخه‌ئی تشکل موندلی اوتحتانی طبقه‌چه دغیر فوسیل لرونکو آهکونوڅخه متشکله ده) دهرات‌دجنوب‌غرب په۱۲میلی‌ر په‌زنده‌جان کښی‌موجودی‌دی

۳ پرمیان Permian : ددغی‌دوری ډبری داق رباط دجنوب شرقی‌خواته دکاربون علیا د طبقو په مـخ واقـع شوی دی چه تفصیل ئی‌ددوکتور ترومپ دتـدقیقاتو په‌اساس په لاندی ډول دی !

۱ دخاکی‌رنگ آهك پنډی طبقی چه ښائی دپرمیان علیـا په دوری پوری مربوطی وی .

۲ د تور بخن آ هـك تحتـانی طـبـقی چه دفوزو لیـن اونوروفوسیلونو د (فورامیشفر ونو) دکورنیر څخه دی اغلباً دپرمیان سفلی په دوری پوری مربوطی دی .

برسپره پردی ، دپرمیان‌ددوری اهکونه دافغانستان دشمال شرقی له متعد دو نقطو څخه هم لاس ته راغلی‌دی چه موجوده فوسیل ئې تراوسه پوری په مثبت ډول تاکل شوی ندی اوددی لامله دهغوی قدامت هم په صحیح صورت سره ثبوت ته نه دی ر سېدلی .

ج دمیسوزویك Mesozoic زمانه :

۱ـ د ترياس دوره Triassic : د ترياس په دوری پوری مربوط آهکونه د خر د کابل (بتخاك لته‌بند) دبرخی څخه پیا دلغمان تررقبی پوری نظرته ر سیدلی دی چه‌ډیر پنډوالی لری اورنگ ئی خاورین او رونډ دی اودغسی هم دکابل د شمال په ۱۸۰میلی‌ر کښې ، دوآب‌میخ‌زرین ته‌نژدی آ هکی خاکی‌رنگه ډبری چه د متحجره حیوا ناتو اثار پکښې نه لیدل کیږی خو دترياس په‌دوری پوری مربوطی‌دی د (برموکاربون)دطبقو پرسر باندی اودیوراسیك تحتانی طبقو څخه لا ندی واقعی شویدی.

د غه ډبری په‌اغلب گمان دجیا لو جستیانو دخوا دترياس په‌دوری پوری مربوطی گڼل شوی دی .

۲ـ د یوراسیك دوره Jurassic : د یوراسیك په‌دوری پوري مربوطی ډبری په افغانستان کښې په عمومی‌ډول په دوو (علیا اوسفلی) دورو منقسمی کېږی .

دعلیا یوراسیك دوره د سیغان سلسله او د سفلی یوراسیك دوره د دوآب سلسله ده څرنگه چه وویل شو د دو آب سلسله دسفلی یوراسیك په‌دوری پوری مربوطه‌ده او تحتانی برخه ئې د ولکانیك له ډبرو څخه ، لکه غر انتیو نه ( و لکانی ډ بری د ستنې په شکل ) او پنډرگونه یادکوارتس یورفیور ددیګونو څخه ،متشکل‌ده‌مگر پورتنی‌برخه‌ئې دلاوادجریان اود آتشفشانی ایرو لامله چه د(توف Tuff ) په نامه یادیږی او د تر اختیك دجنس څخه‌دی وجودته راغلې‌ده . ددغو طبقو عمومی پنډوالی تقریباً ۱۸۰۰ فټه دی او ددوآب میخ‌زرین په شاو خوا کښې خورا ارته ساحه ئې اشغال کړیده .

دسیغان سلسله : (یا د علیا یوراسیك‌دوره): په دغی‌سلسلی پوری مربو طی ډبری په تحتانی بر خه کښې د تو فیك دسره اونصواری رنگو خاورو اوپه‌فوقانی برخه‌کښې د شگو ډبرو چه‌په (سندستون Sand stone) موسوم‌دی اودکانگلو مراتونو او شیلونو څخه متشکلی دی . دهغو عمومی پنډوالی ، ۱۰۰۰ فټه تخمین شوی دی.

دافغانستان دتیږو دسکرو نامتو کا نونه لکه د اشپشتی ، کرکر، دره‌صوف اونورکانونه د دغی سلسلی په‌منځ کښې‌واقع شوی‌دی . دسکرو درگونو پنډوالی د٦تر ۲۵فټو پوری‌دسېږی دافغانستان دسکرو لویی ذخیرې چه د سیغان په سلسلې پوری مربوطی دی دمزار شریف په‌سل‌میلی‌ر کښې‌دجنوب و خواته په درهٔصوف کښې واقع دی، چه‌په(دهن‌تور) (قبرافغان ) اونورو نو مونو معروف وی : د اپشپشتی او کرکر د کانونو سکاره دپوډرو په‌شان دی‌چه دایرو رنگ‌لری اوپه‌کابل کښې داستفادی دپاره دماشین په‌واسطه دخټو په‌شکل جوړیږی .

د سیغان سلسله دهغو اساسی اوبشپړو تدقیقاتو په لحاظ‌چه دمستر ویست Mr . west (په جیولوجیکل سروی آف‌انډیا Geological Sarvy of India پوری مربوط) دخواپه ۱۹۳۸ کال کښې په‌بشپړ صورت تشریح شوی دی او د دکتور ترومپ دنظریې دمخی ددی دوری قدامت . دوسطی او علیا یوراسیك ترمنځ گڼل شوی دی .

۳ـ کریتاس (Cretaesus) : د کریتاس په دوری پوری مربو طی ډبری ، تقریباً د مملکت په ټولو شمالی بر خو چه دهندوکش د سلسلی په شمالی خوا کښې واقعی شوی دی او دغسی هم دمملکت په‌جنوبی برخو باندی احتوا کوی .

ددغو طبقو عمومی پنډوالی د۲۵۰۰تر۳۰۰۰فټو پوری‌دی . دکریتاس‌په‌دوری‌پوری‌مربوطی‌طبقی په‌دروبرخو وښل کېږی :

۱- دعلیا کریتاس طبقی
۲- دوسطی کریتاس طبقی
۳- دسفلی کریتاس طبقی

دسفلی کریتاس طبقی چه‌د (روگریت Rèdgrit) دسلسلی په نامه معروفې دی، د (سندستون) یعنی دشگو د تیږو چه‌سور رنگ‌لری ، اودکانگلو مراتونو څخه چه یوازی د مملکت په شمالی بر خو کښې لیدل شوی دی ، متشکلی دی . د دغوطبقو ساختمان په ښه توګه داشپشتی اوبرفك په‌برخو کښې کتل کیدای شی او ضخا مت (پنډ والی) ئی ٦٥٠ فټه دی د فوقانی کریتاس دطبقو سلسله دپنډو سپینو تبا شیری ا هکو نو څخه متشکل ده چه‌سربیره پرهغه باندی،شین‌اوخاکی ر نگ مارلونه پراته‌دی . دغه مارلونه یوازی خلم (تا شقر غان) ته ورنژدی نظر ته رالحی . دفوقانی کر یتاس د عمومی سلسلی پنډ والی ۱۵۰۰ فټه اټکل کیږی .

د : د ترشیری : Tertiary ز مانه : ددوو نو عو (رسوبی اوقعری) ډ برو څخه متشکله‌ده .

قعری ډبری هغه‌ډبری‌دی چه د مخکی داتشینی نقطی‌څخه ئی بروز کړی اودمخکی په‌مخ کښې منجمدی شوی دی ددغوډبرو قدامت دعلیا ایوسین‌نه ترپیلیوسین پوری ر سیږی .قعری ډبری ټولی د(الیکوسین) په‌دوری پوری مربوطی‌دی چه رسوبی‌ډبری په هغو کښې لیدلی‌شوی نه‌دی .

دترشیری په‌زمانی پوری مربوطی رسوبی ډبری‌دافغانستان په‌شمالی برخو کښی‌موجودی‌دی اواحتمالا دافغانستان په جنوبی حدودو کښې هم شته‌دی .

ولکانی ډبری چه بروزئی کړیدی د افغانستان په جنوبی برخو کښې په زیاتی اندازی‌سره موجودی‌دی او د قدامت دمخی دترشیری په زمانی پوری مربوطی‌دی .

۱- دایوسین Eiocene دوره : دوسطی او سفلی ایوسین په دوری پوری دمربوطو طبقو شته‌والی په‌افغانستان کښې تراوسه پوری ثبوت ته‌نه دی رسیدلی .

یوازی دعلیا ایوسین په دوری پوری مربوطی ډبری‌پردرو برخو مشتملی‌دی :

الف : فوقانی دشنو فوسیل لرو نکی خاورې (ب) وسطی ئې دآهك او (ج) تحتانی ئی دسره آهك څخه متشکل وی او ډبرنظرته‌رالحی دغی‌طبقی دافغانستان‌په‌شمال‌مغربی خواوترټولو بهتر دمرغاب په دره دمرغاب د ښار په۹میلی کښی دجنوب وخواته کتلی شوی دی او کیدای شی چه‌په‌ښه توګه ترکتنی لاندی وټیولې شی .

ددغو طبقو موجوده فوسیلو نه غالباً د (نومو لیتونو) او دیشنوئید Echinoide د ماتو ټوټو څخه عبارت دی دنو مو ړو طبقو عمومی پنډوالی ۸۰۰ فټوته ر سیږی .

۲ - دالیګوسین یا دسبزکOligocen دسلسلی دوره : څرنګه چه‌مخکښی ذکر شوه، په‌دغی دوری پور ی مر بوطی ډبری عموماًقعری (آتشی) ډولی‌دی او ساختمانونه ئی دمختلفو دیګونو، منجمده‌جریانونه اودولکانی ایرو څخه عبارت دی. ددغو ډبرو قدامت، دفوسیل لرونکو مجاورو طبقو د مطالعاتو په اساس، دایوسین اومیوسین په دورو پوری مربوطه ګڼلی شوی‌دی اوثبوت ته رسیدلی‌دی چه دالیګوسین په دوری پوری مربوطی دی . ددغو طبقو په‌منځ کښې د منجمده‌جریا نونو او دغرانیت‌اوګابرو Gabbro دویلی شویوډبرو وجود ، یوبهل خصوصیت هغوی‌ته ورکړی اودهغوی دجنسیت دتشخیص دپاره چه دالیګوسین ددوری دطبقو څخه دی ، آسا نتیاوی پیښوی .

دهرات دښار جنوبی اوشمالی خواوْ اودغسی هم قلعهٔ نوته نژدی (کوتل سبزك) ددغو طبقو دمطا لعی اوڅېړنی دپاره ښه ترا مناسب دی .

دمستر ګریس‌باخ (انګلیس) دڅېړنی‌په‌اساس د الیګوسین په‌دوری پوری مربوطی طبقی دقندهار اوسپین بولدك تر منځ هم موجودی دی .

۳ - دمیوسین Miocene دوره : دمیوسین په دوری پوری مربوطی طبقی، دتالقانو دښار په‌جنوب کښی (دافغانستان شمال شرقی برخه) موجودی دی . ددغی طبقی د ډبرین مالګی ، ګچ، دآهك اومارل څخه متشکلی‌دی اودجیالوجی ساختمان‌ئی په لاندی ډول دی :

الف : دفوقانی میوسین طبقی { دګچ‌طبقی، شیلونه، آهکونه، مارل } دطبقوپنډوالی ۳۰۰ فټ

ب - دتحتانی‌میوسین طبقی : دطعام مالګه، اودغره مالګه دطبقو پنډوالی ۲۰۰ فټه دطعام مالګې دتالقان لوی نامتوکان ئی تشکیل کړیدی .

دتالقان دکان څخه‌تقریباً دافغانستان دوی‌برخی د خوراکی مالګه لاس ته رالحی چه دجنسیت له پلوه دهیواد د بهتر یـن مالګی څخه شمیر لـ کیږی. دکلفګانوقراق ، لته‌بند اونور کانونه هم دتحتانی میوسین په دوری پوری مر بوط دی .

٤ - دپلیوسینPliocene دوره (یـاد هـرات سلسله ) : دپلیوسین په دوری پوری مربوطی طبقی یوازی دمملکـت پـه شمال غرب، شمال اوشرقی برخو کښی پیدا کیږی . داسلسله د سیغانو په دره کښی د خاورینو ډبرو، د شګو دتیږو چه غټی دانی لری اودکانګلو دمراتونو څخه متشکله ده . د پلیوسین په دوری پوری‌مربوطی‌ډبری دهرات دتهرین په‌برخه کښی، نسبت هرځای ته ښه ترالیدلی کیدای شی .

۵۰۰ جلد

دهرات سلسله په‌دی ځای کښی دیوی پنډی کتلی (توتی) د ډبرو څخه عبارت دی، چه دشګی لرو نکو شین رنګو مار لو ټوخه ئی تشکل مو ندلی اوپه منځ کښی‌ئی د شګو تیږی متناوبا ځای نیولی دی. اودمارل‌پرطبقو باندی برسپره چه‌سور بخوند رنګ لری، دشګو تیږی پرتیدی د دغو طبقو عمومی پنډوالی د۱۸۰۰ تر۲۰۰۰ فټه‌پوری تخمین کیږدای شی دهرات سلسله دقدامت اوساختمان‌په‌لحاظ دپنجاب دشمال غربی دسیفالیك له‌سلسلی سره انطباق لری .

دپلیستوسین Pleistocene زمانه : دپلیوسین دزمانی طبقی یوازی دافغانستان په شمال کښی لیدلی کیږی او درس په پښتونصواری رنګو خاورواوهغو شیلونو چه‌دکانګو مراتونو په‌مخ کښی ځای‌لری، مشتملی‌دی، دغو طبقو د بدخشان قطغن، مزار اومیمنی په‌پراخو ساحوباندی احتوا کړیده ( درس‌خاوری ددایمی (للمی) دکرهنی دپاره دمملکت په شمال‌کښی بهترینه مځکه تشکیلوی) دنومورو طبقو عمومی پنډوالی ۳۰۰ فټه اټکل کیږی . دافغانستان په‌جنوب غربی‌برخه (اودهزاره‌جات) په‌وسطی برخو کښی داسی طبقی لیدلی شوی‌دی چه دخاکی رنګ اونصواری رنګ دشګو دتیږوڅخه متشکلی دی ددغو طبقو نسبت، دترشیری دطبقو ځوانې برخی ته کیږی .

که ددغوطبقو موقعیت‌ته وکتل‌شی نوباید چه د پلیستوسین ددوری څخه وباللی شی دنومورو طبقو اصلی قدامت تراوسه پوره‌نه‌دی‌څېړل شوی.ددی دوری ډبری (دجیالوجی په‌اصطلاح) دویلیویا Dilluvia په‌نامه هم یادیږی .

دالوویوم Alluvium دوره : په‌دی‌دوری پوری مربوطی طبقی دنویو طبقو څخه دی چه دافغانستان په موجوده سیندونو کښی تشکل موندلی اودشګو دډبرو او دریائی جغلی څخه عبارت‌دی اوپه ځینو ځایو کښی پنډ تیرا شونه ( تراشې) هم تشکیلوی .

## ٤-دافغانستان اداری تشکیلات :

افغانستان د اساسی قانون‌دمقرراتو په لحاظ (چه د۱۳۱۰ کال‌دعقرب‌په۸ نیټه‌تصویب‌شوی‌دی)مشروطه شاهی یومملکت‌دی نوځکه دشاهی حکومت‌اودریو ګونوقواؤ (اجرائیه‌تقنینیه اوقضائیه) درلود ونکی‌دی .

دافغانستان دټولواك صلاحیت : دافغانستان ټولواك ددولت دمشر په‌حیث لکه دنورو مشروطه ملکونو پاچاهان دهغو صلاحیتونو خاوند دی چه د اساسی قانون په (۷) ماده کښی په لاندی ډول تصریح‌شوی وی : «په‌خطبو کښی دټولواك نوم یادیدل، دټولواك په‌نامه سکه وهل‌رتبی او منصبو نه ټاکل نښان ورکول، دصدراعظم ټاکل، دوزیرانو منظوری اوعزل اوتبدیل، دشوری ملی دمصوبه اصولو تصدیق ، ددغو تصویب شویواصولودمرعیت اومحافظت‌اعلان،دشرعی او اصولی احکامو تنفیذ اوساتنه، دافغانستان دعسکری عمومی قواؤ قوماندانیږ دجنګ اعلان او دروغی ترون او ټول ترډو نو نه دتعزیری مجازاتو عفو او تخفیف شرعا دپاچهی له‌سترو حقوقو څخه شمېرل کیږی .

دغسی‌هم داساسی‌اصول د(۷٦) مادی‌په‌اساس ټول وزیران شوری ته مسئول ګڼل شوی اوټولواك غیرمسئول بلل شوی دی . سربیره پردی داساسی اصول په(۷۰) ماده کښی تصریح شوې ده چه : دملی شوری اوداعیانو دمجلس تر منځ د اختلاف پیدا کیدو په‌وخت کښی(پرهغی‌موضوع‌باندی‌چه پخواداخیرالذکر مجلس له‌خوا تصویب شوی وی) او دشل کسیز کمیسون ( چه دمجلسینو له خوا ددغه اختلاف دحل‌دپاره په‌مساوی ډول ټاکل کیږی ) دفیصلی دردېدلو په موقع کښی ، دملی شوری له‌خوا موضوع دملوکانه حضورته وړاندی کیږی او د شاهانه ارادی سره سم‌فیصله کیږی .

دافغانستان پارلمان : پارلمان ددوؤ مجلسونو څخه عبارت دی: دنمایندګانومجلس اوداعیانو (سنا) مجلس. دنمایندګانو مجلس دیوسلو یو اویاتنو وکیلا نو څخه مرکب دی چه دملت دآزادی رائی په وسیله ددوی دمنځ څخه په‌هرډری کاله کښی یووار ټاکل کیږی اوپایتخت کښی داجتماع‌دپاره را غونډیږی دغه مجلس چه‌په افغانستان کښی د(ملی‌شوری) په نامه یادیږی یورئیس، دوه معاونان اودوه منشیان لری . دغه کسان دهغو وکیلانو څخه چه‌ځانونه ئی کاندیدکړی اودمخه معرفی شوی دی ټاکل کیږی . په‌شوری کښی دهغه‌داخلی قوانینو سره‌سم اودوظیفی په‌انجاب موقتی‌اودایمی کمیسیونونه تشکیل اوخپلی وظیفی اجراکوی ملی شوری په‌یوه کال کښی یوازی شپږ میاشتی کارکوی. اوشپږ میاشتی تعطیل‌لری دتعطیل په وخت کښی دعمومی اسامبلی دخوا یو کمیسیون ټاکل کیږی اودا کمیسیون په مرکز کښی پاته کیږی .

ملی‌شوری عمومی‌مجلس‌داسامبلی په‌نامه‌لری اوهم خصوصی مجلس دکمیسیونونو په‌عنوان لری . سربیره پردی ملی شوری علنی جلسی هم لری چه هرځوك وغواړی ددغو جلسو جریانات اورېدلای شی . مګر په پټو جلسو کښی بی دوکیلانو بلځوك حق دشمول نلری .

ملی شوری ګولای شی چه پخپلو جلسو کښی وزیران اوصدراعظم منفرد اویامجتمعاً راوبولی اوپه مربوطوچارو کښی ددوی څخه پوښتنی او استیضاح وکړی . دشوری د تعطیل په دوره کښی دوکیلانو احضار، دفوق العاده اجلاس دپاره، دشلو ورځو په‌ترڅ کښی یوازی د ټولواك د مړینې پر وخت کښی

صورت‌مومی . (داساسی اصول ٦٣،٦٤مادوته‌دی‌مراجعه وشی ) په‌نورو مواردو کښی دنویواصولو وضع کول، مو قتاً دحکومت تر تصویب وروسته دپاچهی فرمان په‌اساس‌صورت موندلی شی دغه اصول دشوری داجلاس په شروع کېدوسره د نمایندګانو دخوا په‌مجلس کښی ترغور او څېړنی لاندی نیول کېږی په نتیجه کی تصویب، تعدیل یاردېږی (داساسی اصول ۳۲ مادی ته‌دی رجوع وشی ) دافغانستان داعیانو مجلس انتخا بـی دی اوغړی ئی داساسی اصول د(٦٧) مادی سره سم مرکب دی دتجربی‌لرونکو، بابصیرتو شخصیتونو څخه چه د ټولواك دقرین اشرف له خوا، انتخاب اوتعیین کیږی .

دنوموړی مجلس دغونډی‌ځای مرکـزدی . د اعیانومجلس . یورئیس اودوه معینان لری چه دری واړه ئی د ټولواك دلـوړ حضور څخه انتخاب اومقررېږی . داعیانو په مجلس کښی یوه دارالانشاء سره دیوه‌منشی (انتصابی) اودلزوم په اندازی سره داجرائیی اونور دوایروجودلری په دغه‌مجلس کښی هم دایمی اوموقتی کمیسیونونه وظیفی اجرا کوی . د اعیانو مجلس هغه پروژی ترغور اوڅېړنی لاندی نیسی چه دوزیرا نـو دمجلس یادملی شوری دخوا وررسېږی . کوم وخت چه د ملی شوری اوداعیانو دمجلسونو ترمنځ پریوی‌قضیی بـاندی اختلاف پېښ شی نوداساسی اصول د(۷۰) مادی سره سم اجرا آت کېږی نوموړی مـادی په لاندی ډول توضیح کېږی :

«هغه مطالب چه داعیـا نـو پـه مجلس کښی تصویب او اوملی‌شوراته استول کېږی ،که په‌ملی شورا کښی قبول‌نشی، دمطلب داهمیت په لحاظ ، یوبل مجلس چه ددواړو مجلسو نو دیوشمیر غړیو څخه مرکـب وی ورته جوړ ېږی د دغه مجلس د غړیو شمېر چه ددواړو مجلسونو څخه په متساوی ډول تاکل کېږی لېږترلېږه به‌شل‌تنه وی دغه منتخب مجلس په‌متنازع‌فیها مسئلی باندی غور کـوی او خپله نظریه ئې د شوری مجلس‌ته وړاندی کوی که دملی شوری مجلس د منتخب مجلس د رأئی سره‌موافقه نه‌درلوده نوموضوع دملوکانه لوړ حضورته وړاندی کېږی اودشاهانه ارادی سره‌سم فیصلی‌ته رسېږی . »

دوزیرانو کابینه : دوزیرانو کابینه دصدراعظم ،وزیرانو، اومستقل رئیسانو څخه مرکبه‌ده په‌لاندی‌ډول:دملی دفاع وزیر، دخارجی چاروزیر، دداخلی‌وزیر ،دعدلیی وزیر،دمالیی وزیر، دپوهنی وزیر ، د تجارت وزیر ، دفوائد عامی وزیر، دروغتیا وزیر ، د مخا براتو وزیر ، دکانونووزیر ، د کرهنی وزیر ، د مطبوعاتو مستقل رئیس اودقبائلو مستقل رئیس .

صدر اعظم د ټولواك دحضور څخه تاکل کېږی صدر اعظم خپله کابینه جوړوی او دمنظوری داخیستلو دپاره‌ئی د ټولواك حضورته وړاندی کو ی .

وزیران هریو داساسی اصول د۷٦ مادی سره‌سم ددولت‌په عمومی سیاست کښې په ګډه سره او پخپلو متعلقه چارو کښې ېهل ېهل دشوری په‌نزد مسئول دی .

وزیران خپلی مربوطی چاری دخپلو صلاحیتونو په‌اندازی سره‌اجرا کوی او دصدر اعظم حضور ته ئی و پاندی کوی او هدایت اخلی . وزیران دمملکت دعمومی مصلحتونو دپاره او ددې پاره چه په مهمو چارو کښی په ګډو مسئولیتونوسره تصمیمات اتخاذ کړی یومجلس د(وزیرانو مجلس) په نامه‌لری چه‌بی‌له استثنائی اوفوق‌العاده ورځوخخه عادتا په‌هفته کښې‌یوه ورځ دصدر اعظم تر ریاست لاندی انعقاد مومی په‌دغه‌مجلس کښې ، مطالب دصدر اعظم د خوا وزیرانو ته ددوی دهر یوه دوظایفوپه‌حدودو کښې عنوان کېږی اوترغور اوشوری‌وروسته نیول‌شوی تصمیمات ، دمجلس دمنشی د خوا قید او دصدراعظم او وزیرانو په امضا ر سیږی او دلزوم په وخت کښی دټولواك دصحی دپاره هم وړاندی کېږی که‌نیول شوی تصمیونه دقانون دپروژی ما هیت و لری دا عیانو مجلس او دشوری مجلس ته استول کیږی په دی وخت کښې که ملی شوری تعطیل وی‌او تصویب‌شوی قضیه‌یوحتمی اوضروری ماهیت ولری‌دشاهی‌فرمان په صدور سره دتعمیل وړ ګرزی داشغال په موقع کښی کـه موقتی اصول دملی شوری دخوا ومنل شی نوددایمی اصولو په شمېر کښې داخلېږی او که نوی دمجلس دخوا تعدیل یاردېږی. هریو دوزارتخانواومستقلو ریاستوخخه لږ وماًاودوظیفودایجاب په‌لحاظ په‌خپل چوکاټ کښې ،لخانته ېهل تشکیلات لری چه‌دهغه په‌مربوطو څانګو حاوی‌وی .

قضائی قوه: په افغانستان کښې که څه‌هم دعدلیې وزیرلکه دبعضو نورو مملکتونو په‌شان دوزیرانو په‌کابینه کښی داخل‌دی اودعدلیې وزارت هم لکه نور وزارتو نه په صدر اعظم پوری مربوط دی ، خوداساسی قانون د(۸۹)مادی حکم د محاکمو په باره کښې داسی افاده کوی .

« ټول محاکم د هرراز مدا خلی څخه آ زاد وی » ګویا د افغانستان اساسی قانون محاکموته ازادی ورکړې ده چه‌په آزاد ډول د اسلامی شریعت په‌اساس ، خپلی وظیفی اجراکوی.

په‌افغانستان کښی عدلی محاکم دری ډوله‌دی : ابتدائیه ، مرافعه اوتمیز .

د ا سا سی قانون د ( ۹۵ ) مادی په اساس عندالاقتضا یو عالی دیوان هم د دولت د وزیرانو دمحاکمی‌ٌدپاره مو قتاً جوړېږی چه‌دسپارلوشویو چاروترانجامولوروسته، فسخ کېږی په عظمی صدارت کښی د هغودولتی مامورینو دمحاکمی دپاره چه په اداری جرا یمو متهم کېـږی دمـامورینو دمحاکـماتو عمومی اداره مو جوده ده چه هغه هم ددرو محکمو ( ابتدائیه

استیناف اوتمیز )څخه مرکبه ده

دغسی هم په ملی دفاع وزارت کښی دهغو عساکرو دمحاکمی دپاره چه په عسکری جرایمو متهم کیږی یوه محکمه د (دیوان حرب) په نامه موجوده ده .

دافغانستان په تشکیلاتو کښی دولایاتو اداره هم داداری دیووالی په لحاظ دقانون دپاملرنی موردده.

دافغانستان داساسی قانون (۱۰۲) مادهٔ دولایاتو دتشکیلاتو اوداداری په باره کښی داسی توضیح کوی « دولایاتو د اداری اصول په دری اساسی قاعدو باندی مبتنی دی دمانوونیت تو سیع اوپراخوالی دوظائفو تفریق دمسئولیت تاکل .

نظر دغوقواعدوته دموضوعه اصولنامو په اساس دولایاتو مامورینو ټول وظائف تفریق اوتاکل شوی دی او دمامورینو اختیارات هم دموضوعه داصولو په اساس محدوددی اوهر مامور پخپله وظیفه کښی علی المراتب پورته آمرته مسئول پیژندل کیږی) ددغی مادی دنص په موجب دافغانستان دولایاتو اداره دیوه یو مملکی وحدت په شکل متشکل کیږی په دې ترتیب سره چه عمومی رئیس اودولایاتو ستر ملکی آمر نائب الحکومه گان وی اودهر وزارت اومستقل ریاست دخوا یویو نماینده دنومورې وزارت دمتعلقه چارو داجراکولو دپاره په ولایاتو کښی موجودوی .

دغه نمایندگان دولایاتو مامورین اودچارو داجرا و سائط بلل کیږی .

په ولایاتو، اعلی حکومتونو اولویو حکومتونو کښی دعمومی مصالحو دغور اوتدقیق دپاره اوهم دولایاتو دمهمو گډو چارو داجرا په منظور دمشوری مجالس هم موجود دی د دغو مجالسو ریاست دنائب الحکومه گانو ، اعلی حاکمانو اولو یوحاکمانو په غاړه دی اوغړی ئی هغه دوزارتونو ذکرشوی نمایندگان دی

سربیره پردی په دغومجالسو کښی هغه نمایندگان هم حضور لری چه مستقیماً دولایاتو اعلی حکومتو اولویو حکومتیو داهالیو له خوا تاکل کیږی .

دافغانستان په اساسی تشکیلاتو کښی یوبل ملکی وحدت هم دبلدی استقلال له اساس ،نظر ته راځی چه هغه هم دبلدیو د(بناروالیو) ازادی ده داساسی قانون (۱۰۵) ماده دبلدیو دآزادی په باره کښی داسی وائی:

«دبلدیو ددوایرو تشکیل او وظیفی دهغوی د مخصوصو اصولنامو په اساس اجراکیږی»داصولنامه د۱۳۲۶ کال دقوس په ۲۲ نیټه تقنین اوخپره شوې ده . د دغی اصولنامی په اساس دبلدیې آزاد انتخابات دمملکت په ټولو بنارونو کښی معمول دی اودبلدیې ریاستونه ددغو آزادو انتخاباتو په لحاظ خپلی وظیفی اجراکوی .

هر یوه دبلدیې دریاست رئیس ، معاونان او دبلدیی مجلسونه لری. دبلدیی دمجلسو نمایندگان مستقیما د بنارونو داهالیو دخوا تاکل کیږی .

۵ـ تاریخ : دامملکت چه دآسیا اونیږ په معاصر تاریخ کښی دافغانستان په نامه یادیږی په وسطی پیړیو کښی د (خراسان) په نامه اوپه زړو پیړیو کښی د(آریانا په نامه ) شهرت لری تردی د مخه چه دافغانستان په تاریخ پیل و شی ددی مملکت د زړو او باستانی نومونه پیژندل خورا مهم لابدی اوحتمی دی څګه هغو کسانو چه دی اساسی امرته توجه نه ده کړې په دی تصور کښی دی چه دا آسیائی مملکت دهغو نویو مملکتونو له جملی څخه دی چه تر ۱۸ پیړۍ راپه دیخوا دتاریخی اوسیاسی موجودیت خاوند شوی دی حال داچه افغانستان په مختلفو نومونوچه د تاریخ په مختلفو ادوارو کښی ئی درلودل، د آسیائی اومشرقی زړو مملکتو نو څخه دی دامملکت پخپلو جغرافیائی تاکلو محدودوسره دهند چین فارس اومیدیا ترمنځ دمرکزی آسیا په څلورولارو کښی تاریخی مهم رول لوبولی دی اودا رول دسیاست، مدنیت تهذیب ، ژبی ادبیاتو ، افکارو، عنعنو ، معتقداتو ،ظریفو صنائعو مراودات تجارت،سوق الجیشی ،ملی حماسی تحریك اونورو جنبو په لحاظ د آسیا دتاریخ دپاره ډیر اهمیت لری .

دامملکت چه اوس په تاریخ اوعمومی جغرافیا کښی دافغانستان په نامه شهرت لری دمسیحی پنځمی پیړۍ یعنی دیفتلیانو د ظهور څخه نیولی بیاتر ۱۹ پیړۍ پوری دخراسان په نامه معروف وو اوپه څو پخوانو پیړیو کښی د آریانا په نامه یادیده .ددغی آخرنیۍ تسمیې وجهی اصل مبدأ دهند اوایرانی ار یایانو یاد باختری کتلی دمشترك ژوند داستقرار په زمانو پوری مربوط ده چه ددوی دمشترك ژوند خاطری د(سردریا) اوا کسوس په حوزه کښی د مختلفو شواهدو په وسیله څرګندی دی اوخپلی دواړی ځانګی ئی په یوه نامه (آریا)او(ایریا)چه دیوه اسم مختلف تلفظونه دی یادول ، او بیا ددوی استوګنی او استقرار په باختر کښی اوددوی خپریدو دهندوکش په دواړو خواؤ کښی ، خپل غرنیۍ تاتوبیی ئی د(آریانا) په نامه مسمی کړ چه (داریا داستوګنی ځای) معنی ئی درلوده اووائی چه د جغرافیائی تسمیې لرغونیږ وجه ده چه دهندوکش دماحولو خاوروته ور کړه شوې ده دانوم داوستا په (ابان یشت) کښی ذکر شوی دی اودهغه په مقابل کښی (توریانا) راغلی دی چه دتوریا تاتوبې یعنی دبدوی سیتی اریایانو دآموسیند دهغی خوا مخکو یعنی داسلامی زمانی ماوراء النهر ته ئی نسبت کیږی .

اوستایوازی دمملکت دعمومی نامه په تذکار اکتفا نه ده کړی بلکه دوندیداددوم فرګاد د شاپور ګونو ولایاتو

نومونـه دغـرونو اوسیندونو د هغو نومونو سره چه د اوستا په جغرافیائی مبحث کښی به‌هغوی ته اشاره وشی یادکړی دی. دښه مرغه د(یونانولاتین) ځینومورخینو اوجغرافیه لیکـو نکو یووار بیا دقبل المسیح د۳ پیړۍ دشا وخوا څخه را په دیخوا دآریانا دحدودو په باره کښی ځینی معلومات ورکړی دی لـکه (راتوستنس)او(استران ) چه ددوی‌د نظریاتو پـه‌اساس دآریانا حدود په لاندی ډول وو :

داندوس (سند) دسیند شرقی سرحد ، د لوی او قیانوس (دهندبحر)شمالی حدد(سردریا) دسیند شمالی‌حد اولیز وروسته دآموسیند . غربی‌سرحدونه‌ئې‌دهغومځکوڅخه‌عبارت ووچه‌دخزر دبحیری دجنوب شرقی څخه شروع شوی اودهند د بحیری سره یوځای کېدلی په‌دې ترتیب چه (پارتیا) ئی دمید یا ځنـی او (کرمان)ئی د(فارس)څخه‌جلاکـاوه‌دآریاناتاریخی‌او جغرافیائی مفهوم، په ۱۹ پیړۍ کښی دیوی ډلی اروپائی مد ققینو نظر ځان‌ته‌جلب کړاوپه‌عوض کښی‌ئې دغه‌نوم‌دافغانستان‌له نامه سره مرادف استعمال کړ مګر ددی نوم استعمال دمملکت دلومړنی نوم په‌حیث په افغانی مطبوعاتو کښی دډیرو کـلونو را هیسی معمول اومروج دی .

دقبل‌التاریخ دوری : دیوشمیر نو یو علومو د انکشاف په اثر لـکه انتروپولوژی (دانسان طبیعی تاریخ ) اتـنولوژی (دبشری نژادو نو دبدنی خصوصیاتو شرح، مردم‌شناسی ، عتیقه شناسی اونور دعمومی معلوماتوساحه پراخه شوه اودرسم‌الخط (چه دتاریخی عصر شروع ده) ترظهور دمخه نـوری صفـحی دقبل‌التاریخ په‌نامه منځ ته راغلی. قبل‌التاریخ دبشری ژوندانه په مراتبو کښی دیوی زمانی څخه عبارت نه دی بلـکه دفکری اومادی قواوو دانبساط مرحله ده چه دامرحله په ډیلو زمانـو اوپه ډیلو ځایو کښی بشری ډلو طی کړې ده .

اومعمولا په‌هرځای کښې چه‌وی د رسم الخط څرګنـدیـده دتاریخ اوقبل‌التاریخ فاصل حد شمیرل کیږی . پـه دې کښې څه شك نشته چه دقبل‌التاریخ دوری عموما د بشری تـو لنـو حجری دوری احتوا کوی اودا دوری دزړو، متو سطو اونویو دورو په نامه وېشلی‌شوی‌دی اوبعضویوازی داز مانی اومرحلې په دوو برخو تقسیم کړیدی چه په لومړنی برخـه کښې دتیږی آلاتو طبیعی شکل درلود اوپه دو همی مرحلـی کښې تیږه صیقل شوې ده .

دقبل‌التاریخ دمهمو دورو څخه د نیولیتیك (Neolithic ) یادډیږی نوې دوره ده چه معمولا شروع ئی داته زره کـاله راپه‌دیخوا شمیرله کیږی او دهغی نیټی څخه بشریت پەلاینقطع ډول دمدنیت پراونه (مزلونه) وهلـی دی پـه دې دوره کښې دبشری پرمختیا د ممیز و عواملو څخه لا ندی شیان دی :

۱ - دځاروپراهلی ګرزول ۲ - دنباتاتو روزل، ۳ - تیږه صیقل کول اودتیږو څخه اسباب جوړول ٤ - خاورین لوښی جوړول . ٥ - دنباتو بـی اوداستوګـنی‌دځای جوړولو د پاره اقدام کول . داپنځم اساسی ګام ایجاب کړ ترهغو چه نور ضمنی ګامونه دکـاایودجوړولو، دفلزاتودکشف‌اودرسم الخط داختراع دپاره واړختل شی . دهغو څېړنو او تحقیقاتو دمخی چه دنیل، دجلی، فرات، اکسوس،اندوس اوهیرمند په‌حوزو کښې شوی دی داسی استنباط کیږی چه د پورته ذکر شوی مدنیت لمن. لږ وډېره په‌ټوله غربی آسیا کښې غوړېدلې وه اودبین النهرین پراخه‌ساحه،ددې مدنیت لومړنی کـانون ؤ، او د سند اونیل حوزی داسی مرکـزونه وو چه‌په شرقی اوغربی برخو کښې ددې مدنیت ټاټوبی وو .

پروفیسور (هرزفلد) دایران‌په‌تاریخ کښې د باستان شناسی دنظر له‌نقطی څخه وائی: چه ټوله هغه پراخـه ساحه چـه د (نژدی شرق) په نامه یادیږی، څه اواری مځکی اوڅه غر نیز نقطی دتیږی په دوره کښې داستوګـنی ځای ؤ آر یا نـا یـا افغانستان‌دکوه‌پایه (غرنیز لمنی) او دلویرودخانو په‌درلودلو لـکه اکسوس، اندوس،انی‌ماندروس (آموسیند،سنداوهیرمند ) چه دوه ئی دسرحد دخندیو اودریم ئی د مملـکت دمنـځ څخه تېرېږی دقبل‌التاریخ ژوند دمراتبو دتېرولو دپاره مساعد وو. ځکه چه ترمغاره نشینی‌ژوند وروسته چه پەغرونو کښې عملی کېده دنومړو سیندونو حوزی مسکونی شوی وی . دانسان دکوپریز (جمجمی) کشف‌په (نیان درتـال ) کښې چـه پـه ماوراءالنهر کښې ده (دره‌تر کـان دریا در بخارا ) دشوروی پوهانو پەلاس ثابتوی چه دقبل‌التاریخ مغاری د آمـو دریـا پەغرنیو حوزو کښې‌موجودی‌وی‌اودبربریت‌دمغاره نشینیز تردورو وروسته ددریو لویو رودخانو ( آمو، سند او هیرمند )حوزې دآسیا په‌دی ګوټ کښې مسکونی شویدی . لکه چه د شمال شرق ، جنوب شرق دحوزو، دموهنجو دیـرو، سنـد، هر پـه (بلوچستان) اود «انو» (آمودریا) دغونډیو څخه ددری نیمو زرو کـالو ق،م دمدنی ژوند شواهد ، لاس ته راغلی دی .

په ۱۹۳٦م کـال فرانسوی پوهانو هاکن او ګیرشمن په افغانی سیستان دنادعلی پەشاوخوا کښې چه د( ارنـج ) زاړه (سیستان پایتخت ) څخه عبارت دی او د(قلعه کنـګ) دجنوب په ۱۲ میلی کښې واقـع دی د (سـرخ داغ) او (سفیـد داغ) پرغونډیو باندی اودغسی هم په ( تاروسار) کښې کیند لوته اقدام وکړ چه لنډی نتیجی ئی په لاندی ډول دی :

داغونډی ۲۰۰مټره اوږدوالی، ٥۰ مټره سور او۳۱مټره جګوالی لری . اودشرقی دیوکیلو متری پر هغی لاری باندی پرته‌ده چـه‌قلعه کـنګـد (قلعه‌فتح) سره یوځای کوی . ځکه چه اوس سمد لاسه کیند نه دلمړنیز سطحی په ۱۲ متری

ژوروالی کښې اجراشوې ده، نو یوالخی دهغودوو آبادوطبقو شواهد چه په زرکاله ق،م پوری مربوط دی لاس ته راغلی دی. سره له دې دکودړی ټوټی دهغې زمانې دهغوظروفواولوښو سره چه داندوس اواکسوس په درو کښې دی ورته والی لری. او دفرانسوی پوهانو دحدس دمخې داسی استنباط کېږی چه دکار دادامی په وسیله سره به دغوندیو دپاتی برخی په ژور والی کښې، اوحتی دجلګی د سطحی څخه ښکته خواته د قبل المیلاد ددرو، څلوروزرو کالو د مدنیت شواهد کشف او د سند او آمودریاددرو اودایران او بین النهرین دغوندیودتهذیب دارتباط وسائل به څرګند شئ.

د (سراورل ستن) په عقیده، سیستان، د کلکو لیتک (دنوې ډبرینې دورې آخرنی پراوونه د مدنیت ټولی دورې لیدلی دی اوده ساعد موقعیت په وسیله، چه داندوس او اکسوس دحوزو په منځ کښې ئی لری، دنوموړی مدنیت دخپرونې او دهغه دمراتبو د ارتباط په باره کښې مهمه لوبه لوبولې ده د نقشې دمخې څرګندیږی چه دسیستان، هیرمند او هامون دلتا، تقریبا دانو (اکسوس) حوزه اوموهنجو دیرو (دسند له حوزې) څخه په ۵۰۰ میلی کښې پرته ده.

مستر اند روس نه یوازی ددی ځای د لوښو تر منځ بلکه دتیږو داسبابونو اود مفرغو ترمنځ هم داسی ورته والی وینی چه دسر اورل ستن د نظریاتو تائید کوی او د سیستان اهمیت ښه ترا لوی معرفی کوی.

دافغانستان په مجاورو خاورو د سند اوآمو مختلفو حوزو اوداوسنی ایران په متعدد و غونډیو کښې دقبل التاریخ څېړنې څرګندوی چه دقبل المیلاد ددوهم زر په لمړنی نیمائی کښې دآس، ملوانی او دسپرلی نور سامانونه، جوړشوی دی، مدققینو په دی شیانو استناد کړی او عقیده لری چه هغو کوچیانو اومالدارو چه آس ئې اهلی ګرزولی دی دماوراءالنهر، بین النهرین اوهند ترمنځ پرپراخوساحو باندی حرکت کاوه اودغه کسان د (آریا) دټبر څخه عبارت وو.

آریا او آریائی ویدی تهذیب: په اروپائی عمومی اصطلاح سره (آرین) د جامع معنی په قرار پر هغو قومونو اطلاق کېږی چه ژبه ئې یودبله سره نژدی والی لری اومرکزی آسیایی د اروپا تر منتهی الیه پوری اشغال کړې ده (هندو اروپائی) د نامه استعمال عموماً دد غی کتلی په مورد کښې بهتره دی ځکه په هغوادبی نصوصو کی چه په لاس کښې دی. (آریا) او (ایریا) د هند او اروپائی وګړو دهغی ځانګی په مورد کې هم استعمال شوی دی چه معمولا (دهندو آریانی) په نامه شهرت لری اوځرنګه چه دوی څه موده دسر دریا او دهندوکش دتیغې تر منځ دیوی کتلی په شکل ژوند کاوه نوځکه ئې مونږ دباختری کتلی په نامه یادوواودوی ترډیرومهاجرتونو وروسته په افغانستان، فارس، ماوراءالنهر اودهند په شمال غرب کښې ځای ونیو. دهندو اروپائی دقومونو لمړنی ټاټوبی، با لعموم هرچیری چه وی زمونږ دمملکت د باستانی تاریخ دنظره کوم شی چه مهم وی دباختری آریایانو دکتلی دځرګندیدو تحقیق دی چه دښه مرغه دهغو متونو دمخې چه په لاس کښې دی، ددوی ظهور دهغې زمانې له صحنې څخه شروع کېږی چه دوی زمونږ داوسنیو سرحدونو په څنډو کښې دزړی آریانا په شمال شرقی ګوټ کښې مستقر کېږی. او ددوی دراتګ، استوګنې او خپرېدو دهندوکش پردواړو خواو د (آریانا) یعنی دآریاناداستوګنې ځای دظهور باعث ګرزی.

اوستا، لمړنی آریانشینه ځمکه د (آریانم ویجو) په نامه یاده کړیده اوددغې ټوټی ځمکې دارتباط په نسبت، داو ستائی ټوټو سره اودپوهانو دتبصرو په لحاظ چه د وید او اوستا پر متونو باندې ئی کړی دی، اوهم د شوروی پوهانو دعملی تحقیقاتو په اثر داکثرو مدققینو عقیده داده. چه دهندو اروپائی قومونو عمومی او لومړنی زانګو، یااقلا دباختری اریایانو د کتلی ثانوی زانګو چه ددوی دژوند تسلسل دوروستیو زمانو سره ښیی هغه دخاورو مثلث نما ټوټه ده چه دپامیر دشمال غربی لمنو اود (سیردریا) اواکسوس دلوی سیند په مسیر کښې چه په او سنیو فرغانه باندی احتوا کوی واقع شوې ده.

وهندوانی اریایانو دمادی اومعنوی ژوند په مختلفو اړخونو کښې مشترک خطوط، کتلې کېږی دغه خطوط اکثراً ددوی دمشترک ژوند دخاطرو څخه عبارت دی چه لومړی ئې په شمال او وروسته ئې داکسوس (آمو دریا) په جنوب کښې دوام درلود اوبالاخر ددرو خطوطو او د (ایوپاری سنا) دلوی غره سلسلې (یعنی هندوکش) د مهاجرینو د حرکت خوائی تاکلی ده او د قبائلو بېلوالی او ددوی استوګنې په جغرافیائی مختلفو حوزو کښې، ددوی په ادبی او مذهبی ذهنیت کښې توپیر او بېلوالی وارد کړیدی.

نو د ویدی اریایانو دژوند مقدمه داکسوس د حوزې څخه شروع شوې اودافغانستان په خاوره کښې ئې دهندوکش پردواړو خواو ادامه پیدا کړې ده او د (سپیته سند هو) پر ځمکو (یاهفت دریا) یعنی پنجاب کښې خاتمه مونډلې ده.

ګویا په خلاف دنورو باستانی قومونو چه غالبا د مادی شواهدو د کشف په اثر، ددوی پیدایښت او دژوند طرز څرګند شویدی، اریائی ژوند اواریائی تهذیب دادبی متونو په وسیله معرفی شوی دی. دامتون دویدی سرودونو دمجموعی اود اوستا دکتاب څخه عبارت دی.

داریائی سرو دونو مهمه برخه چه په سلسله سره مونږته

را ر سېد لېده څلور لوی کتابونه ئی تشکیل کړیدی چه د (ریگ وید)، (سام‌وید) ،(اتروید) او (یجور وید ) په نومونو معروف‌دی .ترټولو زوړ اوقدیم هغه لومړنی کتاب‌دی او دهغه دجغرا فیائی اثارو څخه معلو مېږی چه د هندوکش او پنجاب دجنوبی لمنو ترمنځ دشرقی افغانستان اوهندی پنجاب په منطقو کښې‌سرودل‌شوی‌دی.ځکه‌چه‌ددغی منطقی سیندونه لکه کو بها (کابل) گو ماتی (گومل) کروموکرمه) راسا(کټر)سوا ستو (سوات) اوسندهو (سند) پههغه کښې ذکرشوی‌دی .

او گنداریس یعنی گنده‌ارا چه د کابل‌دره سر ترپایه په بغل کښې نیسی دیوی‌علاقی په حیث هلته یادشوی د ی .سربېره پر دغو (بلهیکه) یعنی (بلخ) هم دویدی سرود په (اتر و ید) کښې ذکر شوی دی . دافغانستان دا کثرو قبائلو نومونه‌لکه ( پکهتونه ) چه‌هرو دوت (پکتی)یا (پکتیس) یا ( پکتو س) لوستی دی او دپښتانه له ټبر څخه عبارت دی ذکر شویدی . او (الینایان) یعنی نور ستانیان (بهالانا) دبولان د دری و گړی او نور عشائر او ټل چه د(بلهیکه) قبائل یعنی با خټری او (بهاراته) په‌نامه ذکرشوی دی او وروسته د دوی استو گنی دغرونو په‌لمنو اودهندوکش ددواړو خواؤ په درو کښې ځای درلود ، دهغوی یوې بر خې دپنجاب خاوروته هجرت اختیار کړیدی د افغا نستان د ویدی ز مانی د اریایانو ژوند اکثراً دمالداری‌ر جنبه‌دراوده اوددوی دژوند بنسټ دغوایو،پسونواو اسونودگاو پر روزرلو باندی،اړښودل شوی ؤ.

ددوی دژوند مرکزی‌هسته، (کولاس Kulas) یعنی کورنی‌روه. ښځه په آریائی کورنی‌ر کښې محترمه وه ، د کورنی‌ر اداری اوروحانی‌مشرتوب‌دپلار په‌غاړه‌ؤ( گوترا Jotra) خور، (کوشتی) قبیله ، (کرامه) کلی ، ( ویس) دهکده‌او(پور) جنگی کلا ، دهغه وخت دټولنی دژوندانه دمراتبو انبساط ، مو نږ ته را څر گندوی دافغانستان آریایانو په‌ویدی زمانه کښې‌اوړپژند اوخپل کالی‌ئی‌زیاتره‌دغاروپودپوستکی او دوړیو دټو کرانو څخه ، لاس‌ته راوړل ، دتیږو اولرگیو څخه ئی خپلی کوټی اوخونی جوړولی ، پیسی ترهغه وخته یوری متداولی نه‌وی او جنس په‌جنس سره بدلېده اوپه ډېرو موارد و کښې غوئی دمبادلی دواحد په‌حیث ا ستعما لېده ، دوگړو خوراکی شیان دغوښې اوشدو څخه عبارت‌وو . اودغرنیو وښو ، شیدواوعسلو دگډو عصارو څخه‌ئی د (سوما) په‌نامه‌نشه راوړونکی شراب جوړول او څښل به ئی ، جگړنتوب (جنگوئی) ددوی د فطری خصا ئصو څخه ؤ ، غشی اولندې ، او مچلوغزی(فلاخن) ددوی دعمده‌ؤ و سلو څخه‌ؤ او جنگی ار ابی ئې استعما لولې . ښځو په جنگی‌یرغلونو کښې گډون‌کاوه ، دویدی ، ز مانی آریانان عناصر. پرست‌وو . اوهریوه ، طبیعی عناصرو ددوی په تصوراتو کښې ، ربةالنوع در لود مگر سره له دې د(واټ) (ترټولو پورته ) مفکوره ددوی په اذهانو کښې پیدا شوې وه . نځا ، اتې،شعرویل‌اوموسیقی‌ددوی په ټولنه کښې معمول‌وواوریشی‌یانو یعنی د قام پو هانو چه په‌شعر،حکمت ، پند اواندرز،نصیحت ، مذهبی فلسفه اوسیاست کښې‌ئې لاس‌درلود ، دمنوری طبقی په حیث د ټولنی په‌لار ښونه کښې پیشقد مه وو . ویدی ز مانه دافغانستان په تاریخ کښې د هغه ځنځیر د لومړنی‌ر حلقی حکم لری کو م چه تسلل ئی په مختلفو ادبی ، حما سی . فولکلوری اوتاریخی مطالعو کښې خاماخا مونږ هغه ځای ته را کاږی اوددوی ددوری ، تمدن ، تهذیب او ادب اوتظاهر دمملکت دتاریخ په‌وروستنیو دورو کښې‌بی‌تاثیره نه‌وی .

داوستائی آریائی تهذیب زمانه : دویدی زمانه اودهغی دوری‌دآریائی ژوندتحولاتو دهغوممیزاتوسره چه په‌لنډ صورت ذکرشول‌دهندوکش په‌دواړو خواؤ کښې دوام در لود اودلویو مهاجرتونو سبب اوحرکت په‌شرق اوغرب کښې خاتمه‌ومونده اوخلك دغرونو په‌لمنو اودلویو سیندونو یه‌حوزو کښې میشت شول اوپه نتیجه کښې ددوی په‌ژوند کښې‌تحول پیداشو . اود مالداری‌ر ژوند دکرهنی جنبه هم پیدا کړه .

ددین اومذهب مقدمات‌اودژوند تحولات د۱۲۰۰ق،م کال په‌شاوخوا کښې شروع‌شول اوپه‌یوزر قبل‌المیلاد کښې دخلکو په افکارو اواذهانو کښې‌انقلاب واردشو . چه‌معمولا د موجران (زرا تشترا) اوداجتماعی اومذهبی‌عصر دنظامنامی په نامه‌یعنی اوستا د(زردشتی) یا (اوستائی) عصر په نامه شهرت لری . اوستائی عصر پخپل ټول مادی اومعنوی مفهوم ، په افغانستان کښې دآریائی قبائلو دتحولاتو دوهمه صفحه رابنیی .

منتها دویدی عصر مقننین ، دریشی‌یانو ( حکماء‌پوهان او ادیبان) په‌نامه متعدد کسان‌وو ، اود اوستائی ز مانې قوام د (زراتشرا) (دبلخ دحکماؤ څخه‌یوتن) په‌لاس صورت و مونده ددی عصردویدی‌سرودو په‌مقابل کښې ، د گاټونو سرودونه او دویدو څلور گونو کتابونو په‌مقابل کښې او ستائی نسکونه (۲۱ نسکونه)منځ‌ته‌راغلل چه لومړنی‌ئی‌یعنی دگاټونوسرودونه پخپل زاړه اوقدیمی شکل او صورت سره اود اوستا پاته برخه دهغه تشتت اوخپورتیا په اثرپه‌پارتی اوساسانی عصر کی ددوهم تدوین په‌شکل اوحتی دعربو تریرغل وروسته ددریم تدوین‌په صورت زمونږ لاس‌ته راغلی دی . څرنگه چه دوید سرود ونه دافغانسنان د محلا تو د نومونو خاطره خو ندی کړ ېده اوستا په‌ښه تفصیل اوښه‌ترا دخپل‌عصر آریا نشین جغرافیائی‌چوکات دوندی داد په‌لمړۍ‌فرگا دکښې درج کړیدی .(۱۶) قطعی‌آریا نشینی مځکی چه په اوستا کښې ذکر شوی دی په حقیقت کښې دآریانا دهیواد ولایات دی چه‌په (ابان‌یشت ) کښې د ایریانا

Airyana په‌شکل دتوریانا Toryana پمقابل کښې ذکرشویدی. ددغو قطعو نومونه په‌لاندی ډول‌دی :

۱- آریاناویجود(سردریااوآمودریاترمنځ‌مخکه)۲-سغده (سغدیان) ۳- مورو (دمرغاب حوزه)٤ - بخدی( بلخ -باختر) ٥ - نیسایا(جوزجانان) ٦ - هرای وه ( د هریرود حوزه ) ۷ - ویکرته(کازمین) ۸ - اورا (محتملا دروه علاقه ۹- خنتا ( ور گانا یا گرگان) ۱۰ - هری‌ویتی ( د ارغنداب‌حوزه ) ۱۱ - ای‌تومنت (دهیرمند حوزه) ۱۲ - راغا(دبدخشان‌راغ یا تهران ته نژدی ، ری ) ۱۳ - کخره ( د غزنی علاقه ) ۱٤ ورنه ( وانیه ) ۱٥ هپته هندو (هفت در یا پانجاب ) ۱٦ - رانگه ( موقعیت ئی نه ډی تاکل شوی ) داوستائی ټوټو دخاوری تطبیق له اوسنیو مناطقو سره دزاړه افغانستان دتاریخ په مباحثو کښې خورا د لچسپ دی اوبی له هیڅ ډول تبصری اوتفصیل‌څخه‌رابنیی‌چه‌هغه مخکی چه‌دهندوکش دلوئی سلسلی څخه تراوبو لاندی کښې په قطعی ډول دآریا نشین اعلی مخکه وه چه‌ددی غرنی‌لوئی سلسی په گر داورد کښې‌ئی یومتمایزسیاسی اوتهذیبی واحدجوړ کړی ؤ . د اوستا دجغرافیائی مبحث څخه څرگند ېږی چه او ستائی مخکی دسیردریا، سند، دهنداوقیانوس اودلوط ددښت تر منځ داسی مملکت تشکیل کړی وو چه ټوله کلاسیکی او زړه آریانا په کښې داخله وه اودافغانستان ټوله خاوره چه د (فوشه) په اصطلاح،دزړی آریانا وارثه ده داوستاپه خاورو کښې داخله ده . اوستا یوازی پردی‌ولایتو باندی‌دنوم په‌اینبود لواکتفانه وه کړې‌بلکه دهری‌منطقی دجزئیاتو څخه‌ئی هم بحث کړیدی اودافغانستان داکثرو غرونو اوسیندونو نومونه هم په‌صراحت سره‌پکښې ذکرشوی‌دی‌لکه:(یوپائی‌ری سنا) هندوکش، (سپیته گوناگیری)سپین‌غر، (سیامکه) تورغر، (وفره بانت) دواوری غر یاسپین‌غر، (پورانا) پروان (ستیرا) تیرا، ( هریتی بارز) پامیر، (زره دهارا) دباباغر (ریتیا) آمورود، (هوا کنزا) خاشرود (هواسپه) خسپاس، (فرادا) فراړود، ( هوار نو هیتی) هاروت (رینومند) هیرمند، (هری ویتی) ارغنداب ( هرای وه) هریرود اونور .

آریانا : څرنگه چه مونږ دخپلو مطالعاتو په‌ابتدا کښې ذهنی‌جغرافی حدود دمعروفوپونانی کلاسیکی‌جغرافیه لیکو نکو په شهادت وټاکل، په حقیقت کښې‌ددوی په شهادت داوستائی خاطروتذکردی،اود(آریاداستوگنی‌ځای)معنی لری .اودپورته اعلامو دمطالعی څخه څرگند ېږی چه فی‌الواقع دافغانستان خاوره په‌ویدی او اوستائی عصر کښې دآریائی‌قبایلو دژوندانه د تحولاتو صحنه وه. مونږ پخوا اوستا او د دغه کتاب خاوند ته « زرتشترا » اشاره وکړه ، دعمومو عقیده‌دې ده چه‌دالوی حکیم‌دیوزر قبل‌المیلاد په شاوخوا اوپه‌بلخ کښې د (ویشتاسپه) په دربار کښې دخپلو اجتماعی اصلاحاتو مبادی د نوی آیین په‌شکل (چه‌دویدی جنگی‌روح ئی دلوی‌واحد څښتن دلویوالی اوقدرت په سیوری کښې تر سیما وه ) وجودته راوړل . (زرتشترا) اصلا بلخی‌وو، اودشاهی کورنی‌اودبلخ دو زیرانو له کورنی‌سره‌ئی‌دخپلوی‌رابطه درلوده‌دپلار نوم‌ئی پوروشسپه Pourushaspa و، او نیکه ئی (پتراسپه) نومانده او دمورنیکه نوم ئی هچا تسپه و اود (اسپه)دکلمی څخه چه دده د پلرو دنومونو په‌پای کښې لیدله کېږی، څرگندېږی‌چه دهغه‌دپلرنو اود (وشتاسپه) دبلخ دپادشاه‌ترمنځ یااقلا دهغه او دنومورۍ پادشاه دقبیلو ترمنځ دخپلوی‌رابطه موجوده‌وه. د(زراتشتر) دخپلوی د(جام اسپه) د(ویشتاسپه) دوزیراودهغه د ورور (فراشترا) سره یو واضح شی دی چه دهغه څخه ټول خبردی . دزرتشترا مذهبی قوانین اواجتماعی نظام‌دیوه کتاب په شکل منځ ته راغلی چه‌په اوستاسره موسوم او دپنځو لاندی برخو څخه مرکب دی :

۱ - یسنا . ۲ - دیسپرد ۳ - و ندیداد ٤ - یشتونه٥ - وړه او ستا : لمړی‌ اوستا او باختری اوستا اصلا یولوی کتاب‌و چه بی دیونانی منابعو څخه ( تنسر ) موبد، دارد شیرببکان معاصر ینومو بدانو اومسعودی معروف‌مورخ په ۳ او٤ پیړۍ کښې دهغه دمتن پراخوالی‌دغویوپر۱۲زروپوستکوباندی‌تخمین کړیدی : دا اوستا ، دزمانی دېښو اوپه تېره داسکندر دلښکر کښې‌ په‌اثر تیت اوپرک شوه اویوازی گاټونه (گات ها) چه د (یسنا) ۱۷فصلو؛ه‌تشکیلوی ددی اړو دور، څخه ما مون پاتەشول‌اوهرډول چه‌ووپخپل اصلی صورت پاتی شوی‌اوداوستا په نوی تدون کښې دپارتی دعصر په اواخرو او دساسانی عصر په اوایلو کښې داخل شوی دی گاتو نه دهغه علت په لحاظ چه ذکرشوی دی داوستا دنورو برخو پر خلاف دشعر په‌قالب کښې ننوتلې اوویل شوی‌دی‌اود ژبی، ادب، سیاق کلام اودمخاطبې دطرزله‌مخی‌داوستا دنوری‌برخی څخه په ډیرو مراتبو، قدامت‌لری او زوړدی . همداډول دډېرو جنبو په‌لحاظ دویدی له‌سرودوسره نژدی والی لری .

د(گاټونو) او د(ریگ‌وید) دسرودو نژدی والی‌تردی اندازی پوری دی چه دلهجی په جزوی تغیراتو سره کېدای شی چه دیوی ژبی بشپړی فقری په بله ژبه واړه ولی‌شی . اوداړ برقوی یودلیل دی چه دهغه په اساس دزرتشترا اود گاټونو ظهور په افغانستان (باختر) کښې تثبیتیزی اوځرگند ېږی چه یووخت داځای دویدی دادب جلوه گاه وه، او دویدی‌اود(گاټونو ) دسردونو نژدی والی یودبله سره د همدی لاملەو . مونږ پخوا وکتل دافغانستان دآریائی قبایلو ژوند دویدی په‌عصر کښې دمالداری‌ جنبه درلوده دگاټونو د سرودونو

دمطالعی څخه د آریائی ټولنی تحول دمالداری، ځنی وزمنداری ته څرګندېږی اوداوستا نورو برخو دانګته مد لله کړیده چه آریائی قبائل د«زرتشترا» دتلقیناتو په اثر کر هنی او کار اودمځکی دچاروسره تماس پیدا کړی اود اوستا پیروانو دیوه زارع اومځکوال ملت په حیث دزمینداری مدنیت ته انبساط اوپراخوالی ورکړ . دآریانا یادزاړه افغانستان په تاریخ کښی داوستائی اصلاحاتو اهمیت دوګړودروحیاتو دتنمیې او ټینګولو له املهدی چه دهغه په اثر ،خلکو پرنفسی تمایلاتو او پر فردی اجتماعی اوقومی مادی مشکلاتو باندی بری ومونه. داوستا ټول مذهبی پندونه اونصائح دخو کلمو په وسیله په یوه جمله کښی خلاصه کېدای شی اوهغه دادی :

ښه ګمان درلودل ، ښه ویل کول اوښه افعال درلودل .

اوستاسر ببره پر دینی اړخونو یوشمېر زیات قومی ، ملی اوسیاسی مهمی جنبی هم در لودلی په حقیقت کښی د (زرتشت) قامونه ټول دې امر ته متوجه ووچه دآریانا آریایان له هره پلوه څخه په داخل کښی سره یو کړی اود(پردیو) په مقابل کښی ئی دجنګ دپاره چمتوو ګرزوی داوستا یشتونه ددې مملکت دنامتو پادشاهانو اوپهلوانانو د حماسی کارنامو قدیم ترینی صفحی دی. چه په(ودا) کښی هم هغو بعضو ته اشاری شوی دی او اوستا په مفصله توګه دهغه څخه بحث کړی دی .

ددیوانوسره جنګ کول په حقیقت کښی دغیر آریائی عناصرو سره دمبارزی معنی لری .

اولکه چه ددوی داستوګنی ځای اکثراً مازندران او ګیلان ښودل شوی دی ، ددی څخه څرګندېږی چه د آریائی حدودو یادآریائی نشینودخاورو دباندی په نورو مجاورو خاورو کښی اکثراً تورپوستی قوی هیکل وګړی موجودوو چه ددوی دمقابلی یادګار ، دآریانا دآریایانو سره ، تر او سه پووی باقی پاته دی. (توریا)او(توریانه) د(آریا ) او(ایرینه) په مقابل کښی داسی خاطری دې چه آریا نادتوریانا په مقابل کښی تثبیتوی باید دې ته التفات وکړی شی چه داتوریانان د نژاد په لحاظ اصلا آریائی وواودذکرشوی نوم اطلاق په ښاریانو قبایلو باندی کېده او دوی دباختری کتلی ،څخه ښه پاته وو او ترمرکزی ایشیا وروسته دآریانا سرحدونو ته متوجه شول اودآمودریا په جنوب کښی، آبادومځکو دوی دځان خواته جلب کړل . اوستا پرته له دې چه نژادی مسائلو ته اهمیت ورکړی دملی ګټو په مقابل کښی ئی دوی ته بدویلی دی اودایو لوی مثال دی چه د اوستائی ملیت مفهوم دهغه څخه استنباط کېدای شی .

حماسی او داستانی دوره :

حماسه اوداستان لږوډېر په اکثرو مللو کښی مروج و اوځنی دزړو مملکتونو څخه ترټاکلو تاریخی دورو د مخه ښه ترازړی دوری لری دقام داستانی اوعنعنوی روح دهغوی څخه سرچینه اخلی. کله څه هم معمولا داعادت دی چه د استانی دوری دنورو مشخصو تاریخی اعصارو څخه جلا کېږی او یوه ئی د«واقعی» اوبله ئی « تصوری » بلله کېږی اما د حقیقت اودهغی نتیجی اوغائې په اعتبار، چه دټېرو خاطرو څخه متصورې دی په بعضو مواردو اوپه ټېره په هغه مورد کښی چه حماسه اوداستان عام قومی رنګ اوحتی ملی صبغه ولری عیناً دتاریخ مقدمه ګڼله کېږی . اوحتی دهغه دنتائجو تاثیر دتاریخی واقعاتو په نسبت زور وروی لرغونې آریانا یا اوسنی افغانستان نظر اصل جغرافیائی موقعیت ته څرنګه چه مو دمخه وویل، په داسی ځای کښی پروت دی چه شمالی برخوئی په باستانی زمانو کښی د(هندو ایرانی ) کتلو مشترك ژوند لیدلی اودمملکت نورو مناطقو هم داسی پېښ لیدلی دی چه د آریائی ځانګو دخپرېدو په وخت کښی عملی شویدی .

ترڅوچه مهاجرین ، شرق اوغرب اوهند او ایران ته رسېدلی دی .

دباختر آریائی کتله، دمهاجرت دزمانی څخه د مخه دمهاجرت تردورو پوری ځانته خاطری درلودلې، چه دپهلوانانو اوحتی پادشاهانو دکارنامو څخه ډکې شوې او انعکاس ئی دآریایانو په قدیمترین ماخذ یعنی دوید په سرودونومهابهاراته او اوستا کی محفوظ پاته دی اودمختلفو منابعو شهادت دهغه عمومیت تائید کوی .

څرنګه چه ذکر شوی منابع دنومونو اوواقعاتو دتثبیت په نسبت یودبله سره هم آهنګی لری دغسی هم ددغو واقعاتو دوقوع ځای په باره کښی متفق القول دی هغه شا هنامی چه په بلخ اوطوس اوغزنی کښی په دری ژبی منځته راغلی دی بی له دی بل شی نه دی چه اوستائی اوویدی زاړه داستانونه په دری ژبی اودنوی شعری اوزانو په قالب کښې، زمونږ غوږونه را رسوی .

نوهغه شی چه مونږ ئی نن ورځ داستان بولو یامود دقیقی اوفردوسی په عصر کښې داستان باله داوستائی اوویدی په عصر کښې هم د ټېرو زمانو د واقعاتو په حیث په خاطرو کښی ضبط شوې دی او ډېری زمانې موجودې وې چه د سلطنتی کورنۍ او د پهلوانانو په کارنامو پوری مربوطی واقعی د عمومی داستان شکل و نیسی .

په هرحال دشاهنامو ، د اوستا، یشتو نودمها بهاراته ، او دویدی سرودونو څخه څرګندېږی چه دباختری کتلی آریایانو دپاچا هانو له سلالو او پهلوانانو څخه خبر تیا در لوده او دزرتشتر معاصروو اوهم ددوی دپلرونو مرکز د بلخ ښارۀ . لنډه ئی داچه په داستانی اعصارو کښی دری کورنیو په لاندی ډول په آریانا کښې پاچهی کړیده .

۱ : د ( پاراداتا) کورنیو یا پیشدادیان .
۲ : کاوی یا کیانی کورنیو . ۳ : داسپه کورنیو
الف: د(پاراداتا)ترجمه په «پیش‌داد)او«پیش‌دادی»سره کښی .

ددی کورنیو مؤسس ، دودا په‌شاهدی (یاما) او داوستا په اساس (یما)په اساس اود دری حماسی ادب دنص په لحاظ جمشید نامی ؤ چه ټول د یوی مخصوصی کلمی صورت دی . امکان لری چه‌په (جمکرد) یاباستانی قلعه کښې یاما ، پادشاه د آمو درياب هغی‌خواته دسیحون او جیحون ترمنځ استوګنه در لوده ،مګر د «پیشدادی» کورنیو پایتخت د بلخ شارؤ . اوددی کبله په اوستا کښې (بخدیم سر یرام اردووار فشام ) یعنی(بنایسته او ښکلی بلخ دهسکو بیر غونو خاوند ) و یل شویدی او شهرت لری . (یاما) نه‌یوازی لو مړنی پاد شاه‌وو بلکه د کرهنی د اصولو بانی او دخارویو د روزنی مشوق او دفلزاتو کاشف‌هم‌تلقی شوی‌دی . بالجمله دداستانونوڅخه داسی څرګندیږی چه‌آریائی ټولنه د آمودریا (اکسوس ) به حوزه کښې د مالداری دژوند څخه زمینداری ته میلان پیدا کړی اودحیواناتو په‌روزلو دفلزاتو په کشفولو موفق شوی دی کور ازکلی ئی آباد کړی او دنیا لګیو او نباتاتو په ایښودلو او داوبو کولو په‌کارئی‌شروع کړیده لکه‌چه دغه‌تحول(دګاټونو ) څخه چه داوستا قدیمترینه بر خه‌ده اوددی کتاب د نورو برخو څخه په‌ښه‌توګه څرګندیږی . داسی نظرته راځی چه دآریانا اریایان د هندوکش دلوئی رودخانی د دواړو خواؤ په حوزو کښې تر استوګنې او دزمین داری د تمدن د مراحلو تر طی کولو وروسته، دبین‌النهرین دسامی ځینوقامونو ، که په‌ښکاره ډول و وایو دکلدا نیانو د خوا د جابرانه ؤ یر غلونو مورد ګرزیدلی دی لکه چه ددی یر غلونو ترخې خاطرې د (ازهی دهاکا) یاضحاك شخصیت مجسم کړیدی‌اوپه دغه اړوډرو کښې دیاما(جمشید) پاچهی خاتمه موندلې‌ده ! دغې تیاره اودمظالمو دکی دورې‌دوام نه دی کړی ځکه چه آریایان بیا خپلی شاهی کورنیو ته‌توسل وکړاو(تری‌تونا) یا فریدون د(اتویه) زوی ببرته د پاچاهی پرتخت باندی کښیناست چه ځینی‌مورخین‌دی دنوې شاهی کورنیو سر سلسله بولی . د ( ابان یشت ) او (رام یشت) په‌اساس ترفریدون ورو سته (کرشاسپه) د(ثریته) زوی پاچهی‌ته ورسید چه‌داټولواك دیوه پهلوان اویوه رشید اوزړه ور پادشاه په‌حیث ، ځانته کارنامی‌لری . دده د فعالیت دګر، ترټولو زیات ، کابل، ګند هارا ،ارغنداب ، هامون او دسیستان حوزی ، دی

ب : کوائی یا کیانی : د «پوه» په معنی ده او ښائی چه دغی کورنیو ته دپوهانو کورنیو وویلشی . ددې کورنیو جوړوونکی( کاوی کواتا )یا ( کی کوات یا کی قباد ) دی چه اوستا په صریح ډول یوځلی د ( زمیاد یشت ) په ۷۱ فقره کښې اوبل ځل دفروردین یشت په ۱۳۲ فقره کښې له‌ده او دده دجا نشینانو څخه‌صحبت کړیدی ، او دمتونو له‌مخی داوستائی اوپهلوی اودری ادبیاتوله متنوڅخه‌داسې معلو مېږی چه د کیقباد اودبلخ دجنوب دالبرز دغره ترمنځ‌ارتباط موجودؤ اوددە دځوانیو اوزلمی توب شپې ورځې ددغه‌غره په‌څو کو او لمنو کښې تېرې شوی‌دی. اوپه‌دغه غره کښې دده داستوګنی ځای ؤ تردې چه پاچائی ته ورسید اوپه بلخ کښې دمملکت داری په‌تخت کیناست،دده دزمانیو دلویوپښتوڅخه دتور ا نی افراسیاب‌سره یوه سلسله جنګونه‌دی چه‌په‌پای کښې‌ئی مقاومت ونشو کړی اوصلح‌ئی وغوښتله اوپه نتیجه‌کښې داکسوس‌سیند (جیحون) یادآمو سیند د(آریانا) او (توریانا) سرحد ګرځی اونور پادشاهان اود کاوی یاکیانی کورنیو په‌دغه ډول ده : (کاوی یوسان ـ کاوه‌یوسا ـ کی کاؤس، کاوی سیاورشنا کاوه سیاور شنا ـ کی سیاؤش ـ کاوی هوسراوا ـ کاوه هوسرو ـ کی خسرو . )

لکه چه داوستا ابان یشت شاهددی : کاوی یو شان پخواله دې چه دسلطنت په‌تخت باندی کښینی د ( از ریفیه دخوکی) دپاسه چه‌دبلخ دجنوب دالبرز دخوکوڅخه یوه خوکه ده د(اردویسو دااناهیتا) په‌نامه چه دآمودسیند،حاصل‌خیزی، پرېمانیو (فراوانی) اودبلخ دښار سا تونکی ربة‌النوع‌دی ډېری قربانیو ګانې چه دسلو آسونو ـ یوزر غوایانو ـ او دلسو زرو پسونو څخه مقصددی وړاندی کړی او وې غوښتل چه لوی پاچاشی . دالبرز غرچه دبلخ په‌جنوب کښې واقع دی د (کاوی) دکورنیو دپاره دمقدس غره په حیث ګڼل کېده، اوهغه به‌ئی د (اوشیدشتار) غر یعنی د (روښنائی او پوهی ) غربااله، او کوانی شهزادګانو پخواله دې چه دبلخ په تخت باندی کښینی ددغه غره په‌څوکو کښې د (ناهید) په‌نامه قربانیو ګانی ورکولې. دالبرز دغره‌په‌سر باندی د (اوو«۷» مانیو) دودانولو موضوع‌تراوسه پوری‌دبلخ دخلکو په زړونو کښې پاتې ده اوټوائی چه دودانیو دجوړولو اود باغونو داوبه کولو دپاره ئی دخال لرونکو خرو په ذریعه او به پورته خېژولی. اوپه نکلونو اوافسانو کښې دالبرز په غره باندی دمانیو دجوړولو موضوع ( کی کاؤس ) ته منسوبه شوې ده. کاوی سیاورشان، یاسیاوش د کاوی‌یوسان (کی کاؤس) زوی دی چه دتورانی ښځی (سودابی) څخه پیداشو اود پلارنه وروسته دبلخ دسلطنت په‌تخت باندی کښیناست، اود توریایانو یاد مهاجمو قبیلوسره دآمو سیندنه هغی‌خواته په جنګونو کښې په یودردناك ډول ووژل شو، وروسته تردې د حکومت نوبت کاوی هوسرایا (کی خسرو) ته رسېږی چه دبلخ د کیانی کورنیو اوسلسلی له مقتدرو پادشاهانو څخه دی او د سیاوش

دوینې په انتقام اودتوریایانو په مغلو بولـو اوسرکـو بېر او دافراسیاب په وژلو کښې ئې لویې کـامیابېر و ګټلې .

ج - د اسپه کورنۍ : په‌هغو کسانو مشتمله‌ده چه په ظاهره کښې سره د نسبی تعلقاتو دلرلو، د کوانی کور نۍ نه جدا او جلادی؛ او د علامې په صورت د دې کورنۍ دغرو نومونه عموماً د(اسپه) په کلمه یعنی (اسپ - آس) سره تمامېږي . د غـه جلا کوونـکو (ممیزه) نښه سربېره دبادشاهانو په نـو مونو بـاندی، دهغوی دوزیرانو په‌نومونو کښې او حتـی د زرتشت د نسبی سلسلی په‌نومونو کښې هم لېدل کېږی، اودغه و ضعیت ښکاره کوی چه د کیانی دزمانې په آخره کښې د (اسپـه) قبریاقبیلې اقتدار موندلی دی . د (اسپه) د کورنـۍ مؤسس لهراسپه، او په اوستا کښې (اروت اسپه) بلل شـوی دی چـه دچالاکو آسونو خاوند ترجمه شوی‌دی . وائی چه بهـراسپه دمهر په‌ورځ اودمهر په میاشت په بلخ کښې‌دباچاهی‌ر تـاج په سر کېښود، او په دغه تاریخی او بـاستانی ښار کښې ئی د (آزر برزین) آتشکده جوړه کړه . لهراسپه : دوه زامن درلودل چه (ګستاسپه) او (زدی واری) یا (زریر) نومېدل، بهراسپه دخپل عمر په‌آخره کښې له‌پاچائی نه لاس واخست او د(آزر برزین) په آتشکده کښې کېناست اودپاك خدای پـه عبـادت بوخت‌شو او تاج‌وتخت ئې خپل زوی (ویستاسپه) یا(ګشتاسپه) ته وسپاره . دده دزمانې له مهمو پېښوڅخه دیولوی بـاختری مصاح اومقنن (زرتشترسپنتمان) پیدا کېدل دی چه د و یـدی زمانې دریشیانو په طر یقوئی ظهورو کړ . افغانستان په ویدی عصر کښې ډېرریشیان لېدلی دی مګر (زرتشترا) یوډېر لوی حکیم او پوه دی چه د ده قوانین په اوستائی نامه دیو عصر دشهرت بـاعث شو. زرتشترنه‌یوازی قوم‌ته د لارښودنې دوظیفی دسرته رسولو له کـبله دویدی عصر له ریشیانو سره شبا هت لری بلـکه (ګـاتونه) چه‌دده‌شخصی خبری‌دی هم دویـدی عصر دریشیانو داشعارو سره فوق‌العاده نژدیکت لری. ( ویشتاسپه) بلخی پاچا اوښځی ئی ملـکی (هونوسه) اوزامنوئی تـولـو دزرتشتر خبری ومنلې اودهغه په مذهب روان شول ، او پخپله ملاتړی‌ر اوطرفداری‌ر اوپه سلطنتی نفوذ او قدامت سـره ئی هغه په لیری اونژدې ځایو کښې خپور کړ . له روایاتونه داسی معلومېږی چه ویشتاسپه دآتشکدو په و دانولو پیل و کـړ او ددغودوو آتشکدو (آزربرزین مکهر) او (آزرمزیـغ ) نسبت ده‌ته کېږی، اوهغه‌څه‌چه دقیقی‌په‌دغه بـاب کښې‌وائی د بنداهش په هندی نسخه کښې هم لیکل‌شوی اوقیددی . هندی بنداهش له خوار زم نه کـابلستان ته د(آذر مزیغ) د آ تشکدی نقلول ویشتاسپه ته منسوبوی د ویشتاسپه نه وروسته سلسله په اوسـتا کښې چندانې واضحه نه‌ده مګر پهلوی ماخذ ده‌ته د ډېرشو تنو نښځو اونارینه اولادې نسبت کـوی . او پـه شاهنـامه کښې دفردوسی دوینا له‌مخې دده له‌اولادې څخه ۳۸ تنه د تورانیانو سره په جګړه کښې وژل‌شوی دی په دې کښې کـومه شپېه نشته چه دده ځینې زامن په اوستا او پهلوی مأ خذ کښې یـاد اونومونه ئی اخستل‌شوی‌دی مګر پـه‌هغوی کښې مشر اولـوی شخص هـماغه (سپنتو داتـا) یـا (اسفندیـار) دی چه له هـغه نه‌وروسته په‌بلخ کښې پاچائی ته ر سېدلی دی .

او په(بخلی بامیك) یابلخ بامی کښې‌ئې‌د(نوازك)بنارد (وهران) د آتشکدې سره ودان کړ دویشتاسپه له منسوبینو څخه په‌نولو کښې مشهورئی دهغه ورور(زریر) او وراره‌ئی(پسته‌واری) دی

د ویشتاسپه دعصر په تاریخ کښې دزر تشتر په پیدا کېدو سربېره دتورانیانو سره دده او دده داولادې جنګو نه هم مهم دی. ځکه چه‌ددوی په‌مقاومت اومړنتوب سره دسیتی کو چیانو (بادیه نشینانو) دتهاجمو اویرغلو له‌خطر څخه مملکت نجات موندلی‌و . داسفندیار نه وروسته دپښوتاکل یومشکل کار دی، دویشتاسپه او اسفندیار نه‌وروسته دپښوپه‌باب کښې هیڅه اوستا په‌دغه باره کښې څه‌نه‌وائی ،پهلوی متنونه ځینې مطالب لری، اوهغه دبنداهش دشهادت له‌مخې‌ټول کورنۍ او داخلی جنګونه اوالی ګولې دی‌چه‌دمملکت مرکزیت اوقواوې‌ئی له منځه‌وړی دی او ملوك الطوائفی‌ر دوام دآریانا داوسپدنکو دملی قواؤ طاقت په‌ضعف بدل کړی او دسلطنت مرکزیت ئی له‌بلخ او باختر نه لری کړ او په عوض کښې ئی (مدیا) او ( فارس) دسامی آثوریانو له سلطې څخه خلاص شول اودسلطنتو په‌تشکیل ئې لاس پورې کړ . او آخر خبره دې ته ورسېدله چه هخامنشی داریوش اوسیروس میدان‌ته راووتل‌اودفتوحاتو لمن ئی زمونږ مملکت ته راخپره شوه .

دفارس هخامنشیان : دخپلو کتنو اومطالعاتو په‌ابتدا کښې موویل چه دباختری کتلې ایرانی او هندی آریـا ئیانو پخوا له‌دې چه‌خپلو متقابلوخاوروته‌ورسېږی او میشت شی د مهاجرت د شروع کېدو نه پخوائی‌یوڅه موده په ګډه او مشترك صورت دسر دریا اوآمو سیند په حوزه کـښې ژونـدون‌کاوه .له‌دغه مشترك کانون څخه څرنګه چه یو شمېر خلك ئی دهندوکش‌له درو څخه دپنجاب خواته روان شول یوې برخې ئې هم دمغرب لاره ونیوله چه مشهوری‌ئی(امادی) یا (مادیان) او ( پارسوا) یا (پارسینیان) دی . د(ماد) دقبیلې دخزر دبحیرې په جنوبی علاقو کښې ، اود(پارسوا) قبائل دهغو شواحلو په غاړو کښې چه‌ددوی په‌نوم (دفارس بحیره) مشهور شول تیتۆ پرك شول . اوکامله دوه پیړۍ بابلی.،سامی او آثوریانو په‌هغوی باندی حکومت درلود . په‌آخره کښې مادیانو داوومی ق م پیړۍ

په‌شروع کښې ځانونه دسا میانو له سلطی څخه خلاص کړل او (اکبتانا) یعنی همدان‌ئی خپل مرکز وګر ځاوه اوله‌دغه ځای نه‌ئی په‌میدیا باندی پاچائی او حکومت وکړ،د(پارسوا) قبائل چه دآثوریانو له فشارنه‌ئی نجات موندلی‌ؤ ، یوځه‌موده دخپلو تره زامنو «بنی‌اعمام» یعنی مادیانو ترسلطی‌لاندی‌پاتی شول، اودغه وضعیت د۵۵۳ق‌م ترشاؤ خواپوری دوام و کړ ، تردې چه دسلطنت واګی‌دماد دوروستی‌پاچا(آستیاغ) څخه هخا منشی (سیروس) ته‌ورسېدلې‌چه‌دپارسی (پاسارګاد ) دتبریورئیس‌ؤ . اوده د(سوز) یا (سو زیان) کوچنی او محلی سلطنت د شرق او غرب خواته دیوې سلسلې جنګو نو او فتو حاتو په اثر په امپراطوری‌ ـ بدل کړ چه په‌آسیا کښې‌ئی سابقه‌ نه در لوده، هخامنشی فارسی سیروس د۵٤۵ نه‌تر ۵٤۹ ق‌م پوری تقریباً پنځه‌کاله دآریانا دخلکو سره په‌جنګ اوجګړه کښې‌ؤ،اوآخر هم‌یا په شمال کښې د (مساجتیانو) دلاسه او یاپه شرق کښې د(لاببیکیانو) له‌خوا ووژل شو ،له‌هخا منشیانو یوشمېر کسان د(کمبوجیه ، اول‌داریوش، خشا یارشاه ، یادیونانیانو په‌قول اګزرسس) اول اردشیر، دوهم خشایارشاه، او کسس Ochus یادوهم داریوش ، دوهم اوددریم‌اردشیر، اوپه آخره کښې دریم داریوش د۳۳٦ ق‌م‌کاله‌په شاؤ خوا کښې سلطنت او پاچائی ته‌رسیدلی‌دی چه ددوی دمربوطو پېښو بیان په‌عام ډول زمونږ دمملکت په تاریخ پوری ارتباط نه‌لری، یوالخی دفتوحاتو ، او دنفوذو خپر ېدو په لحاظ په آریانا کی ددوی اقدامات په لنډ صورت بیانوو . کـه څه‌هم تاریخ دهخامنشی په زمانه کـښې دآریانا دحالاتو دځرنګوالی په‌باب کښې څه‌نه‌وائی ، خو سره ددې داسې معـلو مېږی چـه دباخـتری دولـت‌مـرکـز یت چه‌دزرتشت دعمرترآخره‌پوری‌ئی‌دوام درلود ،څومودە وروسته دویشتاسپه داولادې په‌وخت کښې کرارکرار اوپه‌تدریج سره ضعیف اوپه‌ملوك الطوائفی‌ سره‌بدل شوی‌وی. سره ددې هم دهغی اوزدې مقابلې څخه چه ډېر کلونه د اول داریوش او سیروس په‌مقابل کښې وشوه ، واضحه معلو مېږی چه دآریائی ولایاتو محلی آمران دخپلې خاوری اوملکت په ساتنه کښې تینګـولاړوو ، اوهخامنشیان که‌څه‌هم ورو سته ترډېرو کلونو دهغوی د مقاومت په ماتولو بریالی‌شول مګر بیاهم مجبوروو چه د مملکت په اداره کښې له هغوی نه کار واخلی اویوالخی دمالیاتوپه اخستلو اکتفا وکړی . لکه چه ددې کار سلسلې په دغه‌ډول حکومت کښې دیونانی‌اسکندر دپېدا کیدو او ظهور تر زمانې پوری دوام وکړ . په آخر کښې د هغوی دفتو حاتو او دسلطې د ټولې مودې په نتیجه کښې د هخا منشی د دربار ددفترداری‌ اومالیاتی اصول په‌ټول مملکت کښې دسندترحوزی پوری خپاره شول اودمفتوحه خاورې په‌حیث د آریانا بېل بېل ځایونه د هخامنشی په‌سنګ نوشتو کښې او دهغو په اساس د (هرودوت) په‌یادونو کښې ذکرشوی اونومونه‌ئی اخستل شوی دی. د هخامنشیانو مفتوحه ځمکی چه طبعاً یو څه موده دهغوی د امپرا طوری جز شمېرل کېدلې هېڅکله یو وا حد مملکت اویوسیاسی واحدنه‌ؤ اونه کېدلی‌شو،اوپه‌همدغه‌دلیل‌یونان یوشی او داسکندر امپراطوری بل شی‌دی . په هر حال دآریانا هغه ولایتونه‌چه دهخا منشی په‌لیکنو کښې یادشوی‌دی په د غه ډول دی : هیر کانیا (ګرګـان) پارتیا ( دطوس و لایت ) زارانکا (زرنګ یاسیستان )آریا (دهرات ولایت) خوارزمیا (خوارزم) بکتریا (باختر) سغد یانا (سغد) ګندا را ( ګندهارا یا دکابل حوزه تر پېښو ره پوری) ستاګیدیا (هزاره جات) ارا کوزیا (دارغنداب حوزه دقندهار ولایت) ماکا (مکران اوبلوچستان ) ساکا (اسکائی ځمکی ).

## آریانا اوداسکندر چپاوونه(لښکرکشی) دځلورمی ق‌م پیړۍ

په‌اوله نیمائی کښې‌دهخامنشی‌له دولت‌نه دانتقام اخستلو مفکورې یونانی عسکر د مقدونی اسکندر په مشری‌ آسیائی خاوروته راو ستل . اسکندر چه‌په ۳۳٦ ق‌م کښې د خپل‌پلار (فیلیپ) په ځای کېناست تقریباً اتیا زره سواره او پلی لښکر چه‌په‌تورو ، اوزدونیزو ، لویو سپرونو سره مجهز اومسلح وو د۳۳٤ ق‌م کال په‌پسرلی کښې د(مارمورا) دبحیرې د ساحل له غاړې د آسیا ځمکوته را وخوځېدل هرکله چه غربی آسیا تولە دهخامنشی په‌امپراطوری‌ کښې‌داخله او د متصر فاتو جز شمېرل کېدله، سمدستی‌ددواړو خواؤ ترمنځ یوه‌سلسله جنګونه شروع شول ، اوپه درېو جګړو کښې : (کرانیك) (ایسوس) او(ګوګـامل) هخامنشیانو پرله‌پسې ماتی وکړه ، او دفارس د امپرا طوری‌ پای تخت (پرسی پولیس) ونیول شو . ددریم داریوش وروستی امید داؤ چه نور په‌شا لاړ شی او د آریانا مفتوحه او نیول شوو ځایونه لومړی (هیر کانیا ) د طوس او ګرګـان ولایت ته اوله دغه‌ځای‌نه باختر ته پناه‌راوړی ، ځکه چه دغو ځایو داوسېدونکو شجاعت او شهامت مشهورؤ . مګر هرکله‌چه‌دآریانا حکمرانان‌اوسرداران په‌اصل کښې د هخامنشی دسلطی سره مخالف وونوله‌دغه مساعد و ضعیت څخه ئی دخپل ځان اودخپل مملکت په ګټه اوفائده استفاده وکړه . (بسوس) دباختر امیراو (ستی‌برزن) دهری (هرات) دولایت حکمران‌او (باستانتانس) د دارنجیان (سیستان) حکمران په ګډه او اتفاق سره د ۳۳۰ ق‌م کال په دوبی په‌هیرکانیا کښې هخامنشی پاچا ووژه ،اودمهاجمو یونانیانو درانلونـکی خطر ددفع کـولو دپاردئی (بسوس ) پخپله پاچائی ومانه اوخپل ولایت ته‌بېرته راغی . د دریم داریوش وژل کېدل ، او د آریانا سرحد و ته

داسکندر رسېدل. اوپه باختر کښې دبسوس دپادشاهۍ اعلانول، اودیونیانو پهمقابل کښې دمملکت ددفاع دپاره تصمیم دغه ټول یوه سلسله مهمې پېښې او واقعات دی چه په ۳۳۰ ق.م کال دپخوانی افغانستان پهتاریخ کښې واقع شوی دی. بسوس دباختر حکمران د هخا منشی دریم دا ریوش له وژل کېدونه وروسته د پاچاهۍ اعلان وکړ، اوله (بارتیا) نه باخترته راغی او هغو سردارانو ته ئی چه پهدغه ملی اتحاد کښې دهغهسره په فکر کښې یواو متحدوو ، دمملکت پهدفاع اومقابله کښې تشویق ور کړ اسکندر پهټېره بیا یونانی عسکردستومانۍ اودلیری مسافرت په وجه په دې خوښ نهوو چه د(آسیا مرکز) د آریانا د غرو لمنوته داخل شی ، دبسوس دپا دشاهۍ اعلان د اسکندر خود خواهۍ اونخوت حس وپاراوه اود(سوزیا) یعنی طوس نه را تېرشو او دافغا نستان سر حدونو ( هری ، هرات) ولایت ته داخل شو . ددغه ولایت حکمران (ساتی برزانس) که څه هم په اول کښې تسلیم شومګر پهدغه کار کښې یې بل مقصددرلود، هرکله چه اسکندر دارته کانا (دهرات دلومړۍ کلا) نه لیری شو، د هرات حکمران دهغه نظامی مشاور چه ( اناګزی پوس Anaxippos ) نومیده وواژه . ساتی برزانس غوښتل چه پهدغه و سیله دنورو یونانی عسکری ټولګیوسره چه دفارس پهخاوره کښې ووداسکندر رابطه قطع کړی اوهغه دخپلو عسکرو سره دآریانی د لاورانو په لاس نیست و نابود کړی. مګر اسکندر ژر تر ژره بېرته راوګرځېد اوزور ور جنګ ونښت ،اوملی مدافعینو په ځنګل کښې سخت مقا ومت کاوه ، اسکندر آخر ځنګل ته په اور اچولو امر وکړ، اوپه دغهواسطه ئی دهری د مدافعینو قواؤته ماتی ورکړه ، اودحالاتو دمراقبت دپاره ئی پهدغه ځای کښې یوه اسکندریه جوړه کړه چه د (ار یون اسکندریه) یا د ( آریا اسکندریې) پهنامه ئی شهرت ومونده . ددرانجیان یعنی د سیستان پهولایت کښې د ملی مدافعینو او ددغهولایت دحکمران (ساتی برزانس) اوپه تېره بیا د(آریاسپه) دقبائلو یادهغو سوار کارو آریائیانو لهخواچه دهامون پهشاو خوا کښې ئی استوګنه کوله سخت مقا ومتونه وشول ، او اسکندر مجبور شو چه داوضاعو دپا مارنی او مراقبت دپاره یوه بله عسکری چونۍ او قشله د(پروتنارن اسکندریې) پهنامه جوړه کړی چه هغه په او سنی (پشاوران) کښې بلل کېدلی شی . هغو یونانی نظامی مشرانو چه دآریانا ملی مدافعینو دپرله پسی حملوڅخه په تنګ راغلی وو، دپشاوران پهشاؤخوا کښې داسکندر پهضد د توطئی جوړولو تهاقدام وکړ. اوبیضې دکشفېدو له کبله خوتنه یونانی مشران پخپله داسکندر پهلاس و وژل شول .

د۳۲۸ ق.م کال پهاولو وختو کښې اسکندر د (اراکوزی) قندهار ولایت تهورسېد ،پهدغه وخت کښې بیا (ساتی برزانس) دهری پهولایت کښې په یرغلونو لاس پوری کړ. اسکندر خپل خوتنه دپرتجربه کار جنرالان دهغه دحملو دردولو اودفع کولو دپاره هرات ته ولېږل ، اودطوس لهخوانه هم ( فراتافرون ) دپارتیاحکمران تهامروکړ چه پهدغه باندی حمله وکړی ،( ستی برزانس) نژدې ووچه یونانی قواوې محو کړی خود رهو قواؤ په منځ کښې ګیر شو اووژل شو ، او دملی مدا فعینو او دیو آریائی غښتلی سردار سره لهمنځهلاړ .اسکندرد (اراکوزی داسکندریې) یعنی دقندهار داسکندریې د جوړولو نه وروسته د(پارو پامیزادی) دولایت دجنوب اوشرق له خوانه تیرشو اود هندوکش په لمنوکښې پخوانی پروان ته ورسېد اوپه دغه ځای کښې ئې د(قفقازاسکندریه) ودانه کړه ،ژمی ئی په دغهځای کښې تیرکړ . د۳۲۹ ق م کال په اول پسرلی کښې دغوربند ددرې اودکوشان دغاښې دلارې دهندوکش نه تیرشو او(دراپساکا ) یعنی اندرابوته ورسېد ، او دباختر لارهئی ونیوله . په باختر او دهندوکش په نورو شمالی ځایو کښې بسوس چه نوی ئی دباشاهۍ اعلان کړی ؤ ،د ځینو قومیمشرانو سره لکه (سپین تامن) او(اوګزیارتس) اوداسې نورو سره د مقابلې دپارهتیار او آماده شو . پهدغه اړو دور کښې (بسوس) ونیول شو او (سپین تامن)دډېر مړ نتوب اورشادت د ښکاره کولونهوروسته ووژلشو، مګرلنډه داچه باختری اوسغدی سوارکارانو کاملهدوه کاله دآمو سیند پهدواړو غاړو کښې یونانیانو ته دسرپه کاسه کښې اوبه ورکړی . بهآخر کښې اسکندر د ۳۲۷ ق م کال په اول پسرلی کښې دهندوکش جنوب ته ښکتهشو او د پنجشیر دسیند په اوږدو کښې دنجراو، تګاو، لغمان، کنړ ، اسمار ،باجوړ ، اوسوات دلارې د اندوس سیند ته نژدې په دغو ځایو کښې دلارې په سر دغرنیو اوسېدونکو قبائلو له خوا تر سختو حملو لاندی راغی ، او په آخر کښې د پنجاب دراجاګانو مخالفتدسند دسیند شرقیغاړی او دپنجاب دروازې هغه ته پرانستلې .

د اسکندر د فتوحاتو اساسی نتیجه دغرب اوشرق ترمنځ تماس دی .لکه چهددغه عصر د پېښو نه معلو میږی افغانستان داسکندر دظهور په وخت کښې دمحلی امراوو له خوا اداره کېده چه پهټینګه د پردیۍ سلطی سره مخالفووو، لکهچه دغه مسئله د داریوش له وژل کېدو او داسکندر سره دشپږ کلنو خونړیو مقابلو څخه څرګندېږی . دهندوکش په دواړو خواو کښې دآریائی مشرانو اوامراوو شپږکلن مقاومت په هغیقوې سره چه په دووکلونو کښې ئی دهخامنشی دولت بیخی له منځه وا یست ز مونږ د جګړه مارود ذاتی قوې او فطری طا قت معرفه د ه .

همدغهسخت مقاومتونه ددې سبب شول چه (۷ ـ ۸) اسکندریې

چه هره یوه‌ئی په‌اصل کښې عسکرې چونې اوقشله‌وه زمونږ په‌مملکت کښې جوړې او ودانې شی، اودغه‌اسکندریې اوپه‌هغو کښې د یونا نیانو استوګنه ددې‌باعث شوه‌چه یونانی روح او اودهغوی اساطیر ،نفیسه صنائع ،هنر ، اومظاهر په د غه ځای کښې رینبی‌وځغلولی اوزمونږ دفکراوخیال ، داستانو اورویو سره ګډ اوخلط شی ،اودغه یوځانته بحث دی‌چه وروسته به‌ئی بیان وشی .

دموریا موقتی سلطه : په هند کښې داسکندر د فتو حاتو عکس العمل دهندی او یو نانی مخالفت په صورت شروع شو او داسکندردوفات نه‌شپږ کاله‌وروسته‌ددې سبب‌شو چه یوسړی د (ساندرو کتیس) یا د(چندرا ګوپتا)په‌نامه چه په‌اصل کښې‌یو ګمنامی سړی وُ ، اودځینو روایاتو له‌مخی د (ناندا) په دربار کښې سپه‌سالارؤ، پاچائی‌ته‌ورسېد، اودهند لومړی‌لوی تاریخی سلطنت او بادشاهی ئی‌دسند او ګنګا په‌منځ کښې تشکیل کړه اوخپل مرکزئې په (پتالی پوترا) او سنې پتنه کښې وټاکه . هر کله چه‌دغه جنبش ،دغه‌سړی،او دغه‌سلطنت ضمناً له‌یونانیانو نه دانتقام اخستلو د ذهنیت له مخې منځ ته راغلی وُ . اوشامی (سلوکوس نیکا تور) دمیراث داستحقاق له مخې ځان داسکندر دمفتوحه ځمکو مالك‌الرقاب ګانې ،دآریانا سرنوشت دیونانی پخپل سرو جنرالانو په لاس کښې معلوم نه‌وُ ، دموریاپاچا له یونانیانو دانتقام اخستلو په غرض زمونږ مملکت ته‌راغی ،او د۳۰۵ ق‌م په‌شاوخوا کښې دموریا امپراطور اوشامی یونانی (سلوکوس نیکا تور) د اندوس (دسند دسیند ) په غاړه سره مخامخ شول ، اوپه نتیجه کښې یونانی امپرا طور مغلوب او دموریا پاچافاتح شو ، اودپیروتاوانو په‌ترڅ کښې د هندوکش جنوبی ځمکی دهندی موریا دکورنۍ ترسلطی لاندی راغلې، اوپه نتیجه کښې د (سلوسی) او ( موریا ) دوو دولتو تر منځ ددوستۍ اوسیاسی روابط برقرار شول .

(مګاستنس) هغه لومړی نماینده دی چه (پتالی پوترا)ته راغلی اودهغه وخت دهند دحالاتو په‌باب کښې‌ئی شرحه کړې‌ده د(چند راګوپتا) نه وروسته دده زوی (بندو سارا) اوله ده‌نه وروسته دهغه نسبی (آشوکا) چه‌دډې کورنۍ یومهم بادشاه او د پخوانی هند یو مشهور پاچا دی ، سلطنت ته و ر سېد (۲۷۳ - ۲۳۲ ق م) لومړی آشوکا یو ظالم پاچا وُ ، اوله ۲۶۰ ق‌م نه وروسته چه‌په بودائی دین کښې داخل شو، ډېر مهربان او نرم اوحلیم سړی ورځنی جوړشو او دیو راهب په حیث دسلطنت په‌تخت باندی ناستؤ ، او دده د سلطنت ټوله دوره درعیت دهوسائۍ اورفاه اودځلکو دنیکمرغۍ او حتی دحیواناتو د آرامۍ داسبابو په‌برابرو لو او تهیه کولو تېره شوه ،لکه‌چه دتیزو په‌یوه سلسله فرمانونو کښې دده وصیتونه تراوسه پوری پاتی دی . دپخوانی افغانستان په تاریخ کښې‌په ضمنی ډول دموریادکورنۍ ارتباط یوالځی‌دهندوکش په جنوب کښې د هغوی د نفوذ د موقتی خپر ېدو په لحاظ نه دی بلکه دبودائی دین ظهور او خپرېدل هم‌دخل لری چه دفلسفی اوهنر اودمعنوی ژوندون له‌مخی ډېر اهمیت‌لری. دبودائی دین‌مؤسس (ساکیامونی بودا) یوشهزاده وُ چه د۵۲۳ اویا ۵۶۳ ق م په شاوخوا کښې په نیپال کښې زېږېدلی دی اوپه (مګده ) یعنی (جنوبی‌بهار) کښې‌ئی له‌دنیائی کارونو څخه لاس واخست اودبشری ژوندون دحقیقت دکشفولو او د روحی آلامو دلیری کولو په‌فکر کښې شوترديچه‌په آخره کښې (بدھ) یعنی‌منور وګرځېد، هر کله‌چه ساکیامونی د(بندوسارا) معاصر وُ له‌دې کبله د(آشوکا)په‌زمانه کښې‌دهغه‌دین ډېرطرفداران پیدا کړل اوپخپله آشوکا دهغه دتبلیغ اوخپریدلو په‌لاره کښې ډېرزیار وایست، لکه چه‌په درېم لوی مذهبی مجلس کښې چه‌په (پتالی پوترا) کښې وشوګاونډیو مملکتوته دمبلغینو لېږل تصویب شول او(مجهان تیکا Majjhantika ) او(دها ماراکیلی تا Dhammaraklita ) ا و ( مهارا کی تا Maharakkita ) هغه کسان وو چه آریانا او غربی یونانیانو ته واستول شول، اوپه نتیجه کښې بودائی دین د آریانا په‌شرقی غاړو کښې پخپله دآشوکا په زمانه کښې پیداشو، اوکرار کرار خپورشو تردې چه په اوله مسیحی پیړۍ او ددوهمی مسیحی پیړۍ په شروع کښې‌ئی دمملکت نیمه شرقی برخه کامله ونیو له، اوافغانستان ترنهمی مسیحی پیړۍ پوری ترزرو کلونو نه زیاته موده په‌آسیا کښې دبودائی لوی مرکز‌په‌حیث پاتی‌شو ددې پېښې تاثیر دمملکت دافکارو، تخیل او هنر په طرز اودژوندانه په نورو مظاهرو کښې رینبی وځغلولې . هر کله چه داشوکا په‌ډېرینو لیکنو کښې د یونانو باختری دخپلواك سلطنت دمؤسس (دیودوتس) نوم‌یادشوی‌ندی، اوددې په‌عکس دسلوسی (دوهم انتیوکوش ) نوم اخستل شوی دی . له‌دې جهته واضحه‌معلومېږی چه‌د مبلغینو دلېږلو په‌وخت کښې دیونانو باختری دولت لا منځ ته راغلی نه وُ. مګر دهندوکش په‌شمال کښې یونانی‌نفوذ موجودوُ. ځکه چه ددغه‌غره دسلسلې په‌جنوب کښې دموریا د سلطی لمن محدوده وه تردې چه‌په ۲۵۰ ق م کښې (دیودوت) دباختر خپلواکی اعلان کړه اودکابل په‌دره کښې دموریا وروستنی حکمران چه (سوناګازنس ) نومېده دیونانو باختری پاچا ( ایوتیدم) دسلطنت په‌زمانه کښې له منځه لاړ، اولکه چه وروسته به‌ولېدل‌شی په هند کښې دموریا د دولت اصلی ځمکی پخپل وار دیونانو باختری دباد شاهانو له خوا ونیول شوې .

دیونانو باختری دولت: په آریانا کښې داسکندر فتوحات دنیولو اوبېرته دلاسه ورکولونه بل شی نه ؤ، خو نتیجه ئې داسی شویو چه باختری شوو یونانیانو پخپله دیو نان دنورو یونانیانو اودسلوسی شامی یونانیانو او دنورو سره خپل روابط اوعلائق وشلوی اودآریانا دآزادی غو ښتونکو اودآزادو غرنیو خلکو دروحیاتو سره سم یو خپلواك دولت جوړ کړی. ددغه نوی جوړ شوی دولت مؤسس ( دیودوت) نومېده، اوپه ۲۵۰ق م) کښې ئی دشامی سلوسیانو په خلاف دباختر خپلواکی اعلان کړه، اوده نه وروسته ده زوی دو هم ( دیو دوت) پاچائی ته ورسېد .

ددیودوت دکورنیو نه وروسته د۲۲۷ ق م په شاوخوا کښې (ایوتیدم) دسغدیان حکمران دباختر په تخت کېناست ، شامی درېم (انتیو کوش) په مخالفت پیل وکړ اوتردې چه پخپله ئې دعسکرو په برابرولو او ایستلو لاس پوری کړ، او بلخ د (سیراکوس) دښار په شان کامله دوه کاله مقابله او مقاومت وکړ په آخر کښې دواړو خوا ؤ صلح وکړه اودباختر استقلال اوخپلواکی سلوسیانو وپېژندله،موریایان د هندوکش له جنوب څخه لاړل؛ اودآریاناتوله خاوره یو خپلواك دولت وګر ځېد، اوپخپل وارئی په چینی ترکستان کښې په تېره ه بیا په هندکښې فتحې وکړی، په هند کښې دیونانو باختری دولت فتوحات د(ایوتیدم)دزوی(دمتریوس)،اوداوپیانی (مناندر)او(اپولودوت) ددغی زمانی دنامتو جنرالانو په همکاری او مرسته شروع شوې، اوحتی دموریا دامپراطوری مرکز (پتالی پوترا) هم ونیول شو، اودهندی متصرفاتو لمن کەدګنګا دحوزې خواته وه او که دسند ددلتا اود کامبې دخلیج دسواحلو خوا ته ډېره پراختیا ومونده . پنجاب، دبهار متحده ایالتو نه، سند کتچ Cutch، کټلیاوار، شمالی ګجرات ، دراجپوتانی یوه برخه دري مهم مرکزونه لکه (پتالی پوترا) (ایوجن) او (تاکزیلا) تول دیونانو باختری دمتصرفاتو جز شمېرل کېدل . او دروم په نظامی پیشرفتو سره د یونانو باختری مفکوری اوتهذیب له پخوانه زیات دهند په خاوره کښې ر ینبی ښخې کړی .

په ۱۷۰ق م کښې د یونانو باختری درېمه سلطنتی کورنیو په (ایوکراتید) سره میدان ته راووتله . مګر هر کله چه دایوتیدم اولاده اوده متعلقین په پنجاب کښې وو، نوددغو دوو کورنیو ترمنځ مخالفتونه شروع شول، مګر په آخره کښې (ایوکراتید) د (ستر پاچا) په حیث په ټوله آریانا باندی خپل نفوذتینګ کړ . سره ددې دا خلی نفاق اوپه شرقی اوشمال شرقی سرحدو کښې داسکائیانو تیاری او آمادګی اودپارتیانو تیری او تجاوزونه پیوا شول ، اوپه نتیجه کښې دغو نا وړو حالاتو د یونانو باختری سلطنت عظمت ته صدمه ور سوله . ایو کراتید د آریانا اوهند په سرحدو کښې ددمتریوس د اولادې سره دمقابلی په وخت کښې ووژل شو، او دده نه ورو سته دده دوو زامنو چه یو ئی (پلاتو) او بل ئی (هلیوکلس) نومېده یوځه موده په باختر کښې پاچائی وکړه. مګر داسکائیانو سره مخامخ شول اودغه ورو سته ذکر شوی شخص ئی دهندوکش په جنوب کښې محدود کړ، اوپخپله هغوی په آخره کښې له باختراو دهریرود له حوزې نه په (ساکستانا) یعنی سجستان یاسیستان کښې سره راغونډ شول اوتمرکزئی پیدا کړ، اودسلطنت په تشکیل ئی پیل وکړ. اوکابل او پختیا او ګندهارا دیونانو باختری دیوشمېر هغو شهزاد ګانو په لاس کښې پاتی شول چه د ځینو نو مونه دادی : (۱) دیو مدس Diomedus (۲) پا ند ر Pander (۳) فیلو ګز نو س Philoxenos (٤) ارتمیدور Artemidore (٥) پو کو لاؤ س Peuklaos (٦) ارکه بیوس Archbios (۷)انتیال کیداس Antiolkidas (۸) امین تاس Amyntas (۹) هر ما یوس Hermaeus دکا بل دملك دیونانو باختری وروستی پاچادی د(٤٥-۲۰ق م) په شاؤخوا کښې ، په دغو وختو کښې دهندوکش په شمال او دمملکت په غربی برخو کی دیونانو باختری دو لت نفوذ داسکا ئیانو او کوشانیانو اوپهلوایانو له خوا محدود شوی ؤ، اویوائچی دکابل په شاؤخوا اوګردیز کښې ئی نفوذ او آمریت درلود. په پنجاب کښې د (ایوتیدم) او (دمتریوس) پاد شاهانو له اولادې څخه د (مناندر) په شان د(۱٤٥ - ۱٥۰ ق م) په شاوخوا کښې ،لومړی ستراتو ، اول (هی پوستراتوتس Hippostratus) او (نیسیاس Nicias سلطنت ته رسېدلی دی . اوددوی مرکز د (ساکالا)ښار یعنی (سیالکوټ) ؤ . په آریانا اوهندی نیول شوو ځمکو کښې دیونانو باختری پادشاهانو د سلطنت دوه سوه کلنه دوره ددې سبب شوه چه دروحیا تو ، اخلاقو ،فلسفی ،هنر ، رسم الخط اود نورو په ګډون اوامتزاج سره د هندوکش په دواړو خواؤ کښې د(یونانو باختری )دصنعت په نامه دنوی ترکیبی مدنیت اوتهذیب اساس پیدا شی ، افغانستان د او ستائی او دبودائی ژو ندون داساسی بنسټ په درلودلو سره د یونانی جمیله صنائعو ،فلسفی هنر او اساطیری (میتو لوژی ) روح واخست اوپخپلو افکارو، اخلاقو ، اوذوق سره ئی نوی ترکیب او نوی شیان پیدا کړل چه پخپله په مملکت پوری مختص دی . ددیانت په لحاظ په دغه وخت کښې پوره آزادې مو جوده وه ، اناهیتا او بوداهر یوه معبدونه درلودل اواوستائی پیروان لاله منځه نه وو تللی ،خروشتی، برهمنی اویونانی رسم الخط معمول اومروج ؤ ، دیونانو باختری صنعت پیداشو اویونانو بودائی صنعت ورځنی راو تلی اوجلاشوی ؤ. په دغه عصر کښې تجارت ترقی وکړه ،دیونانو باختری پادشاهانو

مسکوکات پەورکړه را کړه ( دادوستد ) کښی مهم عامل شمېرل کېده. او(بکترا) دمملکت اداری مرکز په وچه دآسیا دتجارتی لارو دیو ځای کېدو اوجلاکېدو ځای حسابېده . هرکله چه په هند ارچینی ترکستان دیونانو باختری دولت نفوذ خپور شوی اومخ پەوړاندی تللی ؤ ددغوځایو تجارتی مالونه به آریاناته راتلل . ددغو تجارتی مالونو یوه برخه به داکسوس دسیندپه ذریعه د خزر بحیرې ته اوله دغه ځای نه داوکسین Euksin دلارې تورې بحیرې او دروم بحیرې ته تلله . افغانستان پەدغه زمانه کښې د مستظر فه صنائعو په لحاظ (داسیائی هلاد) حیثیت پیدا کړیؤ ، اوهغه یونانی نفوذ چەدآسیا په پراخه سیمه کښې دفلسفی ، هنر ، ادب اوعلم پەبیلوبیلو زمینو کښې تیت وپرک اوخپور شوی ؤ پخپله دیونان نه بلکه د همدغه (آسیائی هلاد) څخەؤ، او د (یونانو باختری ) جنبه ئی درلوده .

پار تیان : پارتیان او پار تیا چه د یوقوم او یو ولایت نوم دی ، دعرق او جغرافیې له نقطی نظره څخه او دهغوی دواکمنو دسیاسی مداخلو پەمحاظ ، دافغانستان په تاریخ کښې تر یوعصر اوزمانی پوری را غلی دی . پارتیان د آریائی باختری بدوی قبائلو څخه یوه قبیله وه چه له یوې خوا د هندوکش جنوب ته د جنبشو اومهاجر تونه وروسته د (پختیا) او دپښتون عنصر په ولایت کښې دهغوی نوم ؤ نښان موجوددی ، اوله بلې خوا دپارت او پارتیا لمر پرېواته خواته د هیر کانیا په علاقه کښې دهغوی دتره دزامنو(بنی اعمام) څخه معلومات ور کوی ،د(پارت) کلمه اصلا د(تبعید شوی) معنی ور کوی . پخوانی تلفظئی د(ت) حرف د(ث) پەصورت لوستل کېده ، اوله دې څخه هم معلو مېږی چه (پرتو) او (پرتیا) (پشتو) او(پشتیا) بې مشابهت ندی ،باید دا وویل شی چه پەارمنی مدارکو اوماخذو کښې (پارث) نه(پهل) ویل کېدل، اودغه نوم د(پهل) ، (پخل) ،(پخلی) نومونوته ډېر نژدې دی چه په پهلوی ژبه کښې یعنی پخپله دپارتیانو اوساسانیانو پەژبه کښې (بلخ) تەورکړ شوی دی . دپارتی کورنیو مؤسس چه (ارساس) یا(ارشك ) نومېده د زیاترو مؤرخینو په عقیده دباختر لەخلکو څخەؤ ،او په باختر کښې دیونانو باختری سلطنت دتشکیل په وخت کښې ئی دغرب خواته انتقال وکړ او دهیرکانیا (طوس) پەولایت کښی چەددوی په نامه پە(پارتیا) سره مشهور شو اودننه آریانا په حدودو کښی ؤ، یوداسې سلطنت تشکیل کړ چەمرکز ئی د (هکاتومپی لوس) ښارؤ ،او ددغه ښار ځای اوموقعیت د دامغان د جنوب په اتەمیلو کښی تاکل شوی دی . پارتیان یا اشکانیان د یو نانو باختری بادشاهانو معاصروو ، اوترهغەوخته پوری چەخپل مرکزئی د دجلې غاړې ته لېږدولی نەؤ ، دسیاسی مداخلو پەلحاظ هم د هغوی یادونه اوذکر کول بې ځایه ندی ، لەدغی کورنیو څخه د (ارساس) نەوروستەپوه سلسله بادشاهان لکه تری وا تس ، ارتبان ، فری یاتس،میتری داتس ، دوهم فرها تس ، دوهم ار تبان ، دوهم میتری داتس ، بادشاهی ته رسېدلی دی . د واقعاتو له نقطی نظر څخه اول اودوهم میتری داتس (۱۲۷- ۱٦٤ق.م ) لەټولو نه مهم دی . لومړی د (ایوکرا تیدس) دیونانو باختری باچا سره معاصر دی، اوپه هند کښې ئی ددغه پاچا لەمصرو فیت او گرفتاریو څخه استفاده وکړه او د ځینو روایاتو له مخی ئی دکابل تر نژدی شاؤ خوا پوری ځایو نه نیولی او فتح کړی دی . او دو هم میتری داتس هغه سړی دی چه دده د مقابلې له کبله اسکائیانو (پارتیا) نەدداخلېدو قدرت ونشو موندلی ، ادهغی علاقی تەښکته شول چەددوی پەنوم (ساکستانا) سرەمشهوره شوه او سجستان اوسیستان ددوی نوی ضبطی اونیولی ځایونه دی .

اسکائیان : دتیان شان د غرونو او دخزر دبحیرې یادتورې بحیرې ترمنځ لەپخوا زمانو څخه د هندو اروپائی دخلکوڅخه یوې څانگې تگ او را تگ کاوه چه نن ورځ معمو لا هغه د(سینتی) قومو پەنامه یادیږی ، او او ستا هغه (توریا) بولی، او آتوریان ئی (اشکوزی) بولی . اوهغا منشیانو ورته د(ساکا) لقب ورکړی دی ، او چینیانو به د(سی) په نامه یا دوله . او سر یتیان ، ساجتیان ، ساکیان یا(اسکائیان) یوچیان، یفتلیان، دهغی مشهو ری څانگی دی ، د هندو ایرانی یادباختری کتلی آریا یان دخاورې دپیو ستوالی له کبله تل او هر وخت ددغه آریائی عنصرسره پەتماس کښې اوحتی په جنگ اوجگړه کښی وو . ځکه چەدوی زیاتره اطرافی او بدوی پاتی وو ،داکسوس (آمو سیند) د جنوبی منطقو حاصل خیزو ځمکو دهغوی طمعه ځانته پیدا کوله ، سیتی عناصر دتاریخ د پیدا کېدلو لەابتدانه تل اووخت په وخت پەیونوم او صنت دآریانا پەشمال شرقی څنډو کښی میدان تەراوتل او پەیو قسم سرەدمملکت پەتاریخ کښی درج او لیکل شوی دی .هغه څا نگه چه پەدغه ځای کښی ورځنی بحث کوو عموماً په (اسکائی) نوم یادیږی او(ازیئی Asii ، پازیائی Pasiai ، تخاری ساکارولی Sacorauli دهغی جزدی چەدچین ددیوال لەشاخخه(کانسوولایت)د (دهیوا گنویانو) یا دژیر پو ستکو هو نیانو بې ځایه کېدل او د(ویو زونیانو Wnsun سره دهغوی جنگو نه ددې سبب شول چەپەپای کښې داکسوس غاړوته و رسېږی . باختر ته دسکائی قبائلو دراتگ په وخت کښې یو قوم چه ( تاهیا) نو مېده ژو ندون کاوه ، او (تخاری) قبیله له (سنگیا نگ ) نەنیولې دپامیر ترغربی لمنو پوری خپرەشوه، او د بدخشان اوقطغن ولایت د منځنیو پیړیو دتخارستان زړه اومرکزیت تشکیلاوه ، اوله هغه څخه دمملکت پەتاریخ کښی ځینی ښارونه ،تهذیب ، رسم الخط ، اوادب پاتی دی .(ساکارو لیان) او (ازیئیان ) وروسته تردې چه په باختری

برخو کښې له اکسوس نه تیرشول لمرلوپدیزی خواته لاړل او هرکله چه پارتی بادشاهانو په پارتیا کښی د هغوی مخه ونیوله دهریرود دحوزی جنوبی خواته ښکته شول ، او دفراه رود او هیرمند کورنیو او ښکتنیو حوزې ددوی په نوم (ساکستانا) یعنی داسکائیانو په منطقه مشهورې شوې . په ربنتیا چه دسکزی سجستانی نوم اوسیستانیان دهغوی بقایادی . گر ځېدونکی او بدوی اسکائیان وروسته تردې چه په سیستان کښی برېوتل او ځای په ځای شول دپارتیانو داولادی سره گډ او خلطشول، او دهغوی دگډ او مخلوط عنصر څخه یوه کورنیو پیدا شوه چه دافغانستان په تاریخ کښی د(پهلوایانو) په نامه یاده شوی ده اوورسته به ورځنی بحث وکړو. پخپله اسکائیانو د ار غنداب په حوزه کښی یو سلطنت جوړ کړ چه مؤسس ئی موئس دی (د۷۳ ق۰م په شاؤ خوا کښی) او مشهور باچائی(ازس) دی (د۵۸ق۰م) چه دار غنداب له حوزی څخه ئی ترشرقی پنجاب او گندها را پوری سلطنت در لود. (ازس) د اسکائیانو مشهور باچادی اومسکوکات ئی دېر اوقسماقسم دی اوپه دې وختو کښی دگردیز په(میرزکه) کښی دده دوه درې زره پول پول مسکوکات موندل شوی او دکابل په موزه کښی موجود دی . له ده نه وروسته د۴۰ - ۴۵ق م په شاوخوا کښی د(ازیلیزس) په نامه یو بل پاچا چه د(ازس) زوی دی پاچائی ته رسیدلی دی .

پهلویان : پهلویان له پارتیانو څخه یوه ځانگه ده چه په (ساکستانا) کښی خپره شوه اوپه لومړیو وختو کښی ئی سیستان دنائب الحکومه په عنوان دپارتیانو په نامه اداره کاوه وروسته تردې چه دپارتیانو مرکز ددجلې غاړې ته ولېږدول شو اواسکائیان په سیستان کښی راتول شول دپارتیانو سره گډ اومخلوط شول او یو گډ عنصر ئی دخپلواك سلطنت سره منځ ته راوایست چه داصل پارت څخه دجلا والی دپاره دوی د (پهلویانو ) په نامه یادوی. اروپائیان دوی ته (هندوپارت) هم وائی . دپهلوا د کورنیو مؤسس (ونوس) نومېده ، او د۱۲۰ق۰م په شاوخوا کښی ئی په سیستان اواراکوزی باندی پاچائی کوله، هرکله چه په پهلویانو کښی دځینو منسوبینو اومتعلقینو دنوم اخستل د(شاه) په نوم سره معمول وو. د(ونوس) په مسکوکاتو کی د (اسپالاهورا) او (اسپالا کاداما) نومونه هم ضرب شوی دی چه لومړی دپاچا ورور اودوهم ئی دهغه وراره دی، اولومړی سړی د(ونوس) نه وروسته پاچا ئی ته رسیدلی دی .

ددې کورنیو مشهور پاچا ( گندوفارنس ۴۸ - ۹۱ق م) دی، اواصلی نوم ئی ( ویندو فارنا)ؤچه(دافتخار گټونکی حاصلوونکی) معنی لری . ده د سیستان نه تر پنجاب پوری دآریانا په ټولو جنوبی برخو کښی سلطنت درلود، اودځینو روایاتو له مخی قندهار په اصل کښی د (گندوفار) له کلمی څخه راوتلی دی، اودهغه ښار په نوم دی چه (گندو فارنس) دارغنداب په حوزه کښی ودان کړی وُ . په کابل کښی دده معاصر (هرمایوس) وروستنی یونانی پاچا او په شمالی برخو کښی (کچولا کدفیزس) لومړی کوشانی پاچا سلطنت درلود زیاتره احتمالات پدې باندی دلالت کوی چه گندو فارنس دپهلوا مقتدر پاچا دهرمایوس کوچنی سلطنت د کابل له درې اوپختیا څخه لیری کړی اوشوکاله ئی دخپل قلمرو جزگرځولی وی . ځینی نور داسی وائی چه کوشانی (کچولا کدفیزس) دکابل په دره کښی دهرمایوس محلی سلطنت ته خاتمه ورکړې ده، د(گندوفارنس) سره ئی کتلی اودمسیح له حواریونو څخه دیوتن (نوماس) نکلونه اوقصی ئی مشهوری کړی دی. له گندوفارنس څخه وروسته دده وراره (ابدا گارس ) یا (اوماگاراسا)اودده نه وروسته نور پادشاهان چه ( آورتاگستس او ( یاگواس) دسلطنت سلسلی ته رسېدلی دی . د وررسته ذکرشوی پاچا(زمامداری) د۷۰ - ۷۵ق م ، کلونوسره برابره اومتصادفه ده، دده مسکوکات د ارغنداب له حوزی نه ډېر پیدا کېږی. اودی دپهلوا د کورنی ورو ستی پاچادی چه کوشانی نفوذ دهغه سلطنت ته خاتمه ورکړی ده .

لوی کوشانیان : دسیتی قومونو څخه یوقوم چه د آریانا له حدودونه دباندی په یوچی نوم یادېده ، اوداکسوس نه چه تیرشی په (تخاری) یا (کوشانی) نامه سره شهرت لری .

یوچیانو وروسته تردې چه دباختر په برخو کښی خپاره شول اودمحلی اوسېدونکو یعنی (تاهیا) سره گډ اومخلوط شول دملوك الطوائفی تشکیلات ئی میدان ته را وایستل چه په دغه دول په پنځوایالتومشتمل وو : (هیومی) چه مرکز ئی (هومو) وُ، «شوانگ می» چه مرکز ئی (شوانگ می) ، «کولی شوانگ» مرکز ئی (هوتسا)، «هیتون» مرکزئی (پوماو) «کااوفو» مرکزئی (کااوفو) . دغه ایالتونه هریو دیو رئیس له خوا اداره کېده ، اوشومودهوروسته (کوئی شوانگ) رئیس څلور نور رئیسان ځانته تابع کړل، او کوشانی سلطنت ئی میدان ته راوایست . معمولا لوی کوشانیان دوو کورنیو ویشل کېږی : یوه د(کدفیزس) کورنی ده، ا ه د(کنشکا) کورنی - دلومړی کوشانی کورنی غړی دوه تنه دی : (کچولا کدفیزنس) او (ویما کدفیزس)، هغه لومړی کوشانی پاچا چه دملوك الطوائفی سلسله ئی له منځه لیرې کړه او مرکزی حکومت اوسلطنت ئی تشکیل کړ (کچولا کدفیزس) دی چه دلومړی کدفیزس په نامه هم شهرت لری. ده د(۴۰-۷۸) مسیحی کلونو تر منځ سلطنت کړی دی، اود(۵۰ق م) کال په شاوخوا کی ئی دکابل په دره کښی دیونانی (هرمایوس )

محلی سلطنت ته خاتمه ورکړي ده . « ویما کدفیزس » یا (دوهم کدفیزس) دخپل پلار نه ډېر مشهوردی. ده د ننه په آریانا کښی دخپل دولت د نفوذ په تأمینولو کښی کوشش کړی او بیائی په دباندنیو ملکونو کښی په فتوحاتو لاس پوری کړ. په هند کښی ئی خپل نفوذ دسند هغی خواشرقی برخی ته ورساوه. اوحتی دځینو نظریو له مخی د گنگا ترناوی پوري مخ په وړاندی لاړ . ده مجسمې بنارس ته نژدې د (مات) په کلی کښی پیداشوی دی . ده په زمانه کښی دچین او آریانا تر منځ هم سخته جگړه پښه شوې ده . او هغه داسی وخت ؤ چه چینیان زیاتره (لمرلوپدیزو هپوادو) ته متو جه شوی وو، او ددوی مشهورجنرال (پان چاو) دغربی اطرافو د فتح کولو په نیت وتلی ؤ، اود(۷۳او۹۲)مسیحی کلونو ترمنځ ئی ختن او کاشغر ونیول ، اودافغانستان کوشانی دولت ئی تهدیداوه ، (ویما کدفیزس) چه داوضاعو مراقبت ئی کاوه خپل ځان او خپله کورنۍ دچین دخاقان سره برابر گڼل په ۹۰ کال کښی ئی دخاقان دلور ازدواج دپاره یوقاصدچین ته واستاوه، چینی جنرال دده قاصد اوایلچی دلاړې نه ببرته راوگرځاوه، اوپه دې خبره د(ویما کد فیزس) دماغ وسوځېد،اواویازره سپاره ئی دجنرال(سی)ترقیادت اومشرۍ لاندی دپامیر دلارو دچین خواته و لېږل، خو دلاړې اویخنۍ مشکلاتو دده لښکرته ډېره صدمه ورسوله ، او په نتیجه کښی کوشانی عسکرمغلوب شول او(ویما کدفیزس) په موقتی ډول چین ته په باج ورکولو مجبورشو، سره ددې (ویما کدفیزس) درومنیانو سره دروابطوقائمولوته اقدام وکړ اودروم دامپراطور (اگوست) سره اوښائی د(مارك انتوان) سره ئی دنمایندگانو دبدلون په ذریعه سیاسی روابط قائم کړل . دلومړۍ کوشانی کورنۍ اوددوهمې کورنی ترمنځ یوه لس کلنه وقفه اوخالیگاه شته چه معمولا هغه د(سوترمگاس) په سلطنت سره ډکېږی (سوترمگاس ) د (لوی نجات ورکو و نکی ) په معنی دی اویله دې چه ددغه پاچانوم ذکرشوی وی په مسکوکاتو کښی ئی خپل ځان په همدغه لقب سره ښودلی دی ، ځینی مدققین دغه فکرلری چه دغه سړی په اصل کښی پاچا نه ؤ بلکه امیریا نائب السلطنه ؤ چه هندی نیول شوې ځمکی ئی دکوشانی ویما کد فیزس له خوا اداره کولی . ده مسکوکات په افغانستان کښی ډېرزیات پیداکېږی دلویو کوشانیانو دوهمه کورنۍ چه په دې سره دافغانستان دکوشانیانو په تاریخ کښی نوی عصرشروع کېږی، په(کنیشکا) سره موجودیت پیداکوی اوده په اولادې اوجانشینانو سره دوام کوی ، کنیشکا دلویو کوشانیانو ستر پاچا دی (د۱۲۰ ـ ۱۶۰م) په شاؤخوا کښی چه په روایاتو کښی د(گندهارا شهزاده) په لقب یاد شوی دی یواځی دده شخصیت او کارنامې دکوشانی عصرډول تاریخ یوه مهمه برخه ده . دده شهرت اوامپراطوری دآریانا له چوکاټ نه وتلې اوهند ثبت - چین اوروم ئی نیول وو . کنیشکاد کوشانی امپراطوری پراختیا ډېره زیاته کړه اودهغی لمنې ئی مخصوصاً په هنداوچینی ترکستان کښی خیرې کړې . دده مجسمی ، لیکنې اومسکوکات په هند کښی له(ماتورا) او (بنارس ) نه نیولی تر ( غازی پور) اودگنگا ترغاړو پوری موندل شوی دی اومعلومېږی چه دسیند حوزه دده د نیولو ځمکو جزوه ، اوحتی دهندی موریایانو پای تخت (پتالی بوترا) هم دده به لاس فتحه شوی و .

کنیشکاد (ویما کدفیزس) دماتی جبرانی اوتلافی وکړه او خطاء ،ختن، کاشغر اویارکندئی ونیول اودخپلې امپراطوری لمنې ئی دلویو ځلورو سیندو : اکسوس ، اندوس ، گنگا،او دتارم ترناوو پوری خپره کړه . کنیشکاد(سنکیانگ) د علاقی دنیولو له کبله هغه یرغمل ونیول چه چینی شهزادگان ووچه په دغه جمله کښی(شن پا او)هم ؤ چه دکاشغر دچینی پاچا له منسوبینو څخه ؤ . دغه یرغمل په دوبی کښی په (سریکه ویهارا) نومی معبدیا په(شالوکیه)نومی معبد کښې چه دکاپیسی دښار(ننی بگرام) په شاؤخوا کښې دپهلوان دغره په شمالی لمنو دریزه کوهستان په مقابل کښې وو ، اوسېدل . کنیشکا د خپلې امپراطوری دپراختیا له کبله هغی منځنیو برخو کښی چه د (گندهارا) او (کاپیسا) علاقی دی مرکزونه درلودل چه ددوبی اوژمی دپای تختو په حیث مشهور دی .

دده ددوبی پای تخت د (کاپیسا) ښاریعنی اوسنی بگرام ، اوده دژمی پای تخت (پورا شاپورا) یادپېښور ښارؤ .

د کنیشکادعصر د لویو مذهبی تحولاتو څخه د بودائی نوی طریقې (مهایانا) یادنجات دلویې لاری پیدا کېدل دی چه دلوی (۵۰۰ کسیزه) محفل د کېدلو نه وروسته د پېښور یا کشمیر علماء د کنیشکاامپراطور په امرد (وازمیترا) تر ریاست لاندی دهغه وخت دبودائی علماوو ر ئیسان وگرځېدل . له هغو لویو آبداتو څخه چه دپای تخت پوشاؤخوا کښی ئی دغه امپراطورته نسبت کېږی. دچاریکارو په لمر لوېږې خوا کښی ( دتوپ درې معبد) اوبل لوی معبد دپېښور په ښار کښی دی چه خرابی ئی تر اوسه پوری تادی پی . کنیشکاپر اوډول ډول مسکوکات ضرب کړی دی او امتیاز ئی په درې وشیانو کښی دی ، رسم الخط ، ژبه ، تصویرونه هغه رسم الخط چه دده په مسکوکاتو کښی استعمال شوی دی یونانی رسم الخط دی چه ترزیاتی اندازی پوری ئی تغیر کړی دی اوله دی جهته هغه (یونانو کوشانی) بولی،دده په مسکوکاتو کښی خروشتی رسم الخط استعمال شوی ندی خودده د زمانو په لیکنو کښی تراوسه پاتی دی ، هغه ژ به چه دده په مسکو کاتو کښی

لېدل کېږی په (تخاری) سره مشهوره او دایرانی کورنۍ څخه یوه ځانګه ده کنیشکا پخپلو سکو کښی بی ددین او مذهب له تمیزنه د آریانا ټول مشهور ار باب انواع ښودلی دی، اودغه کار دده په زمانه کښی د مذهبی مفکوری په آزادۍ باندی دلالت کوی .

دلوی کوشانی پاچا ( کوشانشاه) نه وروسته، یوشمېر کسان چه (واسیشکا) دوهم کنیشکا، او (هوویشکا ) او (واسودودا) نومېدل سلطنت ته رسیدلی دی، اوپه دغه جمله کښی (هوویشکا) په ټولو کښی مشهوردی، او دده د زمانی یاد ګار په خرو شتی رسم الخط یوه لیکنه او کتیبه ده چه دوردګوله خوات نه پیداشوی ده اودبرطانیې په موزیم کښی موجوده ده، او (واستودودا) ددې سلسلی وروستی پاچا دی، اوده دزمامداری دوره په (۲۲۰مسیحی ) کښی پای ته رسېږی . لویو کوشانی بادشاهانو عموماً په داخلی او خارجی سیاست کښی یومعین اساس تعقیباوه چه مهم خطوط ئی دادی : د کوشان لومړنۍ کورنۍ یعنی (کدفیزسیان) سمددې سره چه سلطنت ته ورسېدل دمرکزی مقتدر حکومت دتشکیل په فکر کښی شول او دیونانو باختری او پهلوا اوا سکائی دولت وروسته پاتی کسانئی له هرې خنډې اوغاړې نه لیری کړل اوپه عوض کښی ئی یو مقتدر واحد دولت په یو پراخ چوکاټ تشکیل کړ . ددغه دولت متانت له دې څخه معلو مېږی چه له دوو پېړیونه په زیاته موده کښی په هغه کښی ضعف پیدانه شو، کوشانی بادشاهانو دمملکت دخلکو دعرف اوعاداتو او عقیدو احترام کاوه، لکه چه د کوشانی امپراطورۍ په خاورو کښی دېلو بېلو ادیانو، مذهبو اوارباب انواعو پرستش او عبادت کېده کنیشکا پخپل دربار کښی دعلماوو، ادیبانو اورو حانیو نو راغونډولو ته ډېر اهمیت ورکاوه اوله دغې لارې نه ئی خپل سلطنت اوزمانه تقویه اومستحکمه کړل، کوشانیانو کوشش کاوه چه خپل اودخپل مملکت اوامپراطورۍ حیثیت په هرقیمت چه تمام شی دپردیو په نظر کښی لوړمعرفی کړی او بیا هغه وخت په اقتصادی، تجارتی او سیاسی زمینو کښی له خپل ممتاز وضعیت نه استفاده وکړی . په شرق کښی د لویو کوشانیانو معاصر دچین دولتونه اوپه غرب کښی دروم دولت ؤ ، دغودوو رقیبو دولتو هریو غوښتل چه د کوشانی دولت سره دوستانه مراودات او تجارتی علائق ولری .

کوشانی پادشاهانو له رقابتو څخه استفاده وکړه اوخپل سیاسی اوتجارتی روابط ئی ددواړو خواؤ سره برقرار کړل دغه روابط په ( ویماکدفیزس) سره شروع شول اودکنیشکا به ذریعه ئی پراختیا وموندله. او وروسته ذکر شوی امپراطور د(تراجان)سره سیاسی روابط قائم کړل. دغه رنګه د کوشانی دربار اودچین د امپراطورانو ترمنځ سیاسی روابط تینګ شول.

دمخه موږه لومړۍ ز مانه کښی دبودائی ودانیو او دلوی مذهبی محفل جوړولو په خصوص کښې د کنیشکا توجه ته اشاره وکړه داچه د کوشانیانو دوره دروحانیونو اولیکوالودروزنی او تربیې دپاره یولوی عصر اوزمان حسابېږی کنیشکا پخپله یومذهبی مشاور درلود چه (پارسوا) نومېده اواصلا د ګندهارا ؤ . او (ازومیترا) دګندهارا یوبل عالم دبودائی عصر د علما وو اووم صدراومشر شمېرل کېده. د کوشانی عصر له مهموخاطراتو څخه یوه په آسیا کښی د بودائی دیانت خپرېدل دی چه دهغه عصر دلویو علماوو پهواسطه سره شوی وو . کنیشکا پهملک نیولو سره دخپلې زمانی د روحانیو نو دتبلیغ دپاره لاره پرانیتله، اودلومړۍ مسیحی پېړۍ په اوله نیمائی کښی د پامیر هغی خوا شرقی برخوته اوله دغو ځایو نه لیری منطقو ته دګندهاری، کاپیسی، بامیانی، اودباختری علماوو کاروانونو مسافرتونه وکړل اودچین دمرکز خواته ئی دخپلو افکارو، عقائدو، نصائحو، پوهی، ذوق اوقریحی دخپرولو د پاره لاره پرانیتله . مختلف کتابونه ئی په چینی ژبو ترجمه کړل، اوپه دغه ترتیب سره بودائی فلسفی اومذهبی مبادیو اود کوشانی عصر دآریانا تهذیب، هنر اوافکارو چین ته اوله دغه ځای نه شرق اقصی ته لاره وموندله اوخپاره شول . کوشانی عصر دادب اودرسم الخط دتحول اودنورو په لحاظ ډېر اهمیت لری، (خروشتی) رسم الخط چه ده ته (هندو باختری) یا (آریائی ) هم وائی او دآریانا درسم الخطونو څخه یودې پخوانی رسم الخط حسابېده له څلورمی ق م پېړۍ څخه یاځه ناڅه دریمې قبل المیلاد پېړۍ څخه ترپنځمی مسیحی پېړۍ پورې تقریباً ۸۰۰ کاله دوام کړی دی . دغه رسم الخط په دریمه ق، م پېړۍ کښی په مملکتی دفترونو کښی هم رواج درلود، وروسته بیایو نانی رسم الخط دهغه رقیب پیداشواودواړو رسم الخطونو په مسکوکاتو کښی دوام وکړ - دلویو کوشانیانو په زمانه کښی له مسکوکاتو څخه د(خروشتی) رسم الخط رواج و غور ځېد او سقوط ئی وکړ اوزیاتره به دمتبرک رسم الخط په حیث په مذهبی لیکنو کښی استعمالېده . لکه چه د ( هوویشکا ) مشهوره لیکنه چه دوردګوله خوات نه پیداشوی ده دغه مطلب مؤیده . سربېره په دې دسانسکریت یوډول رسم الخط چه آثارئی په دریمه اوخلورمه مسیحی پېړیو پورې مربوط دی هم له بامیانونه موندل شوې ده چه ځینی مدققین هغه د(کوشانو) رسم الخط بولی ، ادبیات په کوشانی زمانه کښی لوړو درجوته ورسېدل . ځینی دکنیشکا عصر دسانسکریت دادب درنساس دوره او نور ئی ډېراکریت دوره بولی . دغه رنګه دګریکو بودیك صنعت چه د افغانستان دهیکل جوړولو مخصوصه مدرسه ده دکنیشکا په دوره کی اودهغی نه وروسته دوره کی ترقی وکړه .

یونانو باختری اود یونانو بودائی صنعت: هغه پښتنی چه تراوسه پوری موبیان کړی لکه داسکندر فتوحات، اودباختری یونانیانو دوه سوه کلن سلطنت،د بودائی دین خپر پدل، اودلوی کنیشکادرونساس عصرددې سبب شوې چه دافکارو ، عقائدو نظریاتو، ادیانو، مذهبو احتیاج اوتشویق دتماس په اثرد آریانا دمستظرفه صنائعو په لحینو مظاهر و کنبی انقلاب پیداشی په دې کنبی شك اوشبهه نشته چه داسکندر په راتگ اودیونانو باختری خپلواك سلطنت په جوړېدو سره د یونانی هیکل تراشانو رویه په تېره بیا دهغوی دماهر استاد (یسپ) رویه په افغانستان کنبی معموله شوه اوددغه مقصد شاهد دیونانو باختری په مسکوکاتو باندی دیونانی داستانی ارباب الانواعو تصویرونه دی چه دښائسته والی اوښکلیتوب په لحاظ دهغی زمانی پخپله یونانی ضرب هم دهغو سره برابری کولی شوه معمولا دفن پوهان دغه عقیده لری چه ددغې فنی روش په ظهور اوپیدا کېدو کنبی د باختری هنرمندانو قریحی اوذوق ډېر دخل او لوی لاس درلود په هرحال ددې صنعتی مدرسې مظاهر د آموسیندله ښیو غاړونه ډېر پیداشوی دی، اوپروفیسر (هرزفلد) دغه مدرسه دبودائی صنعت اودمرکزی آسیا دمستظرفه صنائعو اودپارتی ، کوشانی اوساسانی دورود صنعت مبداء شمېری. دغه مدرسه په افغانستان کنبی مخ په ترقی روانه وه .اوعمومیت ئی درلود چه بودائی دیین دخپلی فلسفی داستانو اونکلونوسره ورسېد اود( بوداهیکل ) چه هندی هیکل جوړوونکو دهغه له جوړولونه لحان ژغوره ، دافغانستان دهنر مندانو په لاس وتراشل شو، اوپه نتیجه کنبی دافغانستان دیونانو باختری دهیکل تراشی دښوونځی اودبودائی مذهبی افکارودتماس په اثر په آریانا کنبی د(یونانو بودائی ) نوی صنعتی مدرسه پیداشوه. لحینی مدققین ددې مدرسې د پیدا کېدو لحای په باختر کنبی دهندوکش په شمال کنبی اولحینی ئی دهغه په جنوب گندهارا کنبی بولی. حقیقت چه هرځنگه وی گندهارا ددې مدرسې دودې اونشوونما مهم کانون دی،اوهغه شواهد چه له(هدې)او (تاکزیلا) نه په لاس راغلی دی دغه مسلم حقیقت په نظر کنبی لحلوی، گریکو بودیك مدرسه دوخت په لحاظ په اوله ق،م پیړی کنبی پیداشوې ده اوپه لومړی مسیحی پیړۍ کنبی چه داسکائیانو ، پهلوا تگ اوراتگ اود کوشانیانو دپیدا کېدو او ظهور زمانه وه دوام وکړ اوپه دوهمه مسیحی پیړۍ کنبی چه دادکنیشکا پیړۍ بلله کېږی دترقی معراج ته ورسېده له اود دریمې مسیحی پیړۍ ترنیمائی پورې ئی دوام وکړ ، کوشانی سقوط اود ساسانیانو ترقی اوپه تېره بیا کابل ته ترنژدې لحایو پوری ددوی موقتی پرمخ تگونه ددې سبب شول چه له دغې مدرسې څخه نوې څانگی پیداشی چه هغه د(ایرانو بودائی) یا د(کوشانو ساسانی ) په نامه بلل کېږی (پنجمه) مسیحی پیړۍ اودیقتلا نوظهور دیونانو بودائی دمدرسې دتنزل سره مصادفه اوبرابره ده ، اوموسیو (فوشه) ددغه عصر هیکلونه (بی روحه گډی ګانی) بللی دی . هرکله چه په دغه زمانه کنبی هیکل تراشی تجارتی جنبه پیدا کړه د هنرمندانو دپاره دهنرذوق او ارزښت له منځه لاړ، په شپږمه اواوومه مسیحی پیړۍ کنبی ددې په لحای چه صنعت بیخی سقوط وکړی دهندی (گوپتا) دشیوې نوی روح په هغه کنبی نوی روح پیدا کړ لکه چه دغور بند ددرې د(فندقستان) آثار شاهددی .دغی مدرسې که څه هم دافغانستان دهیکل تراشی وروستی ښو ونځی دی سره ددې په چین کنبی دتانگ دعصر دمجسمو جوړو لو په رویه باندی ډېر تاثیر وکړ،اوپه اتمه پیړۍ کنبی دمجسموجوړو لولمنی لا زیات وکم دوام در لود .

کیداریان یا کوچنی کوشانیان: ددریمې مسیحی پیړۍ په اولو وختو کنبی دلویو کوشانیانو دعظمت دوه سوه کلنه دوره دبهلو بیلو عواملو له کبله لکه دهند فتوحاتو ته ډېره توجه دساسانی مقتدر سلطنت پیداکېدل اودمرکزی آسیا د کوچی (بادیه نشین) قوموفشار کرار کرار مخ په سقوط اوزوال روانه شوه د کوشانی امپراطوز(واسودوا) له مرګ نه وروسته دغه امپراطوری په کوچنیو کوچنیو محلی امارتو ووېشل شوه ، په دغه ترتیب دتنه دافغانستان په خاوره کنبی دوه کوشانی محلی امارتونه یو په باختر .کنبی اوبل د کابل په دره کنبی میدان ته راوونل، اوهندی کوشانی متصرفات تر یووخته پوری د کوشانی تاب الحکومه گانو په لاس اداره کېدل ، او په آخره کنبی تول د(گوپتا) دسلطنت سره له منځه لاړل . دلویو کوشانیانو وروستی پاچا (واسودوا) اود کوچنیو کوشانیانو لومړی پاچا (کیدارا) دی ، په دغه وخت کنبی د آریانا په کارونو کنبی د ساسانیانو مداخلې الی ګولې پیدا کړې چه د تاریخی سلسلې تعقیبول له مشکلاتو خالی ندی. په دې کنبی څه شك اوشبهه نشته چه دلویو او کوچنیو کوشانیانو دتدریجی سقوط له علتو څخه یو علت هماغه دساسانی مقتدر دولت ترقی او عروج دی چه د افغانستان په خاورو کنبی دهغوی دزیات تجاوز له کبله د کوشانی ملوك الطوائفی دوره شروع شوه . (کیدارا) یا لومړی (کیداری) (دشلور می پیړۍ اوله نیمائی) هغه څوك دی چه په باختر کنبی ئی دساسانی فیروزدتجاوز په ضد مقابلې ته دوام ورکړ اودساسانیانو له خپلوی ، اودمالیې اوخراج له اخستلو نه ئی منع راوړه په داسې حال کنبی چه دساسانی قواؤ سره ئی مقابله درلوده لحان ئی د کابل په کوشانیانو پوری و تاړه چه دتجاوز کوونکو په مقابل کنبی یوډېر قوی اومتمرکز دولت تشکیل کړی، د کیداری یا کوچنیو کوشانیانو دسلطنت لمن د لمرلوېدیزې خوانه تر بامیانو پوری اودلمر ختیزې خوانه تر انډوس (سند) خپره وه ، اوشمال ئی دهندوکش جنوبی لمنو اوجنوبی حدئی دبنو دعلاقی غرنیو برخو

تا که ، اومرکز ئی دپښور ښارۀ . په دې کښې شك نشته چه ساسانیانو په آخره کښې داتو کلو جنګو نو نه ورو سته دکابل ترشاو خوا پوری خپل نفوذ خپور او پراخ کړ،مګر دغه موقتی سلطه ډېره موده پاتې نه شوه ، اودارمنی (فوستس ) د اشاري له مخې په ۳۱۷ ـ ۳٦۸ کلونو کښې دساسانی دوهم شاه پور په ضد دخپلواکۍ غو ښتنې جګړه شروع شوه، اوپه نتیجه کښې ساسانی لښکرو دوه واړې سختی ماتې وکړې او پخیله شاه پور د جنګ له میدان نه وتښتید.داول کیدارانه وروسته دده یوزوی( کنګاس ) اوله ده نه وروسته دهغه بل زوی (پیروPiro) ( ۳۷۰ـ۳۸۰ ) پاچائی اوسلطنت ته رسېدلی دی. هرکله چه ساسانیانو بیادمداخلې اوېرغل اراده وکړه نودهغوی دمقابلې دپاره یفتلیان را پیداشول وروستی کیداری پاچا (ورهران) یا(بهرام ) نومېده .

یفتلیان . دسیتی قوموله ښاخونو څخه چه د مخه موبیان کړل (یفتلیان) دی چه دنورو څانګو په شان ئی د آریانا ځمکو ته دراتګ نه پخوا په آسیائی قوموتو کښې شهرت در لود . چینیانو دوی د(هوا Hoa) او(هواتون Hoa-Tun) او(یتا Yeta)او(اپتا Epta) په نامه پېژندل . او په کوریو کښې د (یوپ تل) (Yoptal ) په نامه مشهورو . اود (یزانس لیکوالو په بیلو بیلو لهجو هغوی د(افتهالی توی) ( اوتهالی توی)(تفتهالی توی) په نومونو یاد کړی دی . اولکه چه د بر یتانیکا دائرة المارف لیکی دد وی دنوم اصلی ر یښه ( اپتل Aptl) یاهیتل Haptal ) ده چه په فارسی مأخذ کښې (هبطل) شوی اوعربوورځنی (هیطل ) جوړ کړی دی . هباطله اوهیاطله ئی دجمع په صورت استعمال کړی دی.

دسانسکریت منابعو یفتلیان د (سیته ادنا) په نوم اوصفت یاد کړی دی چه معنی ئی (خارجی سپین پوستی ) دی . یفتلیان د (۳۸۵ ـ ٤۲۰) کلونو په شاؤخوا کښې د آریانا په شمال کښې د آموسیند په ښې غاړو کښې را پیداشول اود (٤۲۰ـ٤۲۵) کلونو ترمنځ مملکت ته داخل شول،اودخپل فعالیت زیاتره مرکز ئی دپاسنی تخارستان(بدخشان) دغرو په لمنو کښې وتاکه . دیفتلی سلطنت تشکیل په ابتدا کښې دیوقومی ریاست شکل درلود،او اوبیله دې چه دوی دلومړی رئیس یا پاچا نوم په لاس کښې وی مأخذ ددوی له رئیسانو څخه یو د(ایتایتو) یا(ایتالیفوس) په لقب یادوی . یفتلیان هغه وخت د آریانا د تاریخ په صحنه کښې داخل ښکاری چه دلمر لوبدیزی خوانه ساسانیان اودلمرختیزی خوانه (گوپتا) زمونږ ګاونډیو هیوادو فارس اوهندته په ډېر قوت سره رسېدلی وو، اودفارس ساسانیانو په هغو تجاوزو سره چه مونږ یاد اوبیان کړل زمونږ دمملکت هستی په خطر کښې اچولې وه. دیفتلیانو پیدا کېدل ، اودووی فعالیتو نه او ددوی نظامی ډوله رژیم په حقیقت کښې د افغانستان د غرنیو ځایو دقوت عکس العمل دی اوممکلت ته په موقع کښې نه یواځی دهلاکت نه نجات ورکوی بلکه ساسانی متجاوزین ئی مغلوب اومات کړی، اودهغوی هېواد داضمحلال، سقوط اوتسلیم سره مخامخ کوی ، په افغانستان کښې د یفتلیانو ولیتونه د فارس دساسانیانو او د هندی ګوپتایانو په ضد په دوو جنبو تقسیمېدلی شی او دواړو خواؤ ته دیفتلیانو کار فتحی او کامیابۍ ته رسېږی . له یوی خوا ساسانیان شا ته ووهل شول، اوله بلی خوا په هند کښې فتحی وشوې دبهرام ګور او هم یزد ګرد سره د یفتلیانو جنګو نه هغه واقعات دی چه دساسانی پادشاهانو سره د آریانا دیفتلی دولت دجګړې مقدمه تشکیلوی ،تردې چه په ٤۲۵ کال کښې د یفتلی ستر پاچا یعنی (اخشنور) په تخت باندی کښېنی . دیفتلیانو او ساسانیانو دریم جنګ هغه جګړه ده چه داخشنور او فیروز ترمنځ واقع شوه . ساسانی پاچا د(لوط ددښتی ) سرحدی بیکران په دښتو کښې مغلوب او بندی شو اودآریانا او فارس دووهېوادو ترمنځ سرحدونه تاکل شو . اوفیروز وعده وکړه چه تاکلو حدودو احترام به کوی اوخپل زوی (قباد)ئی د یفتلیانو په مرکز کښې دګرو په ډول پرېښود چه پخپله پلارئی خپل هېواد ته ببرته لاړشی اویوځه پیسی دجګړې دباج په عنوان ورو لېږی. مګر دخپلو ټولو وعدو او تعهداتو څخه ئی مخالفت وکړ او بیائی په تجاوز اوتعرض لاس پورې کړ ، تردی چه په ٤۸٤ سنه کښې ساسانی لښکرو بل ځل بیاماتی وکړه اوفیروز ووژل شو ، او(اخشنور) د هغه یوه لور ځانته په نکاح کړه او د ساسانی فارس دولت دکالنی باج په ورکولو محکوم شو چه فیروز منلی اوتعهد ئی کړی ؤ ،دافغانستان د یفتلیانو دفعالیت بل میدان د هند خواته مخه کول ، د(ګوپتا یانو) سره مقابله ، اوپه هندوستان کښې فتوحاتدی چه دیفتلی زابلې قبیلې اودهغو پاد شاهانو په واسطه سره وشول چه له دغې قبیلې نه میدان ته راوتلی وو ، په هند کښې دیفتلی فعالیتو قهر مانان (توراماتا ) اوزوی ئی (میراکوالا) دی . دیفتلی او ګوپتا یانو دقواؤ ترمنځ لومړی جګړه د د(سکاندا ګوپتا) په زمانه کښې پېښه شوه ،مګر د (توراماتا) کلکی حملې د ۵۰۰ م نه ورو سته شروع شوې او په نتیجه کښې د(ګوپتا) دامپراتوری اساس د(ساسانی) امپراتوری په شان خراب اوبرهم شو اوپه یوه سلسله ملوك الطوائفی بدله شوه. دیفتلی زابلی دولت نفوذ په(توراماتا) پواسطه له پنجاب څخه زیات نه شو یعنی تجاوزئی ونه کړ،مګردده دزوی (میراکوالا) په زمانه کښې دده نفوذ لمن دهنده پخاوره کښې خپره شوه اوپراختیائی وموندله، تردې چه (یوګوپتا)دهندی ګوپتا ورو ستی امپراتور (میراکوالا) ته ماتې ورکړه او کرار کرار د یفتلی دولت مرکزی قوه داوزدو جنګونو نه ورو سته له مټه لاړه او په آریانا کښې ملوك الطوائفی پیداشوه ، او دغه هغه وخت دی چه یفتلی قواوې د مملکت د غرونو په لمنو کښې لکه بادغیس ،

غرجستان ، بامیان، بدخشان، جاغوری، تگاب، نجراب. کوهستان اوداسی نور تقسیم او متمرکزې شوی او د کوشانی عنصر سره ګډې اومخلوطی شوې او په جلاجلا نومونو او القابو چه وروسته به ورځنی بحثو کړو داسلام دمقدس دین د پیدا کېدو تر زمانی اوحتی دهغه نه وروسته ئی هم محلی امارتونه درلودل .

دتوکیویانو (ترکانو) سلطه : ترکان چه دمنګولیائی مغلی قومونو څخه یوقوم دی دبلې مغلی څانګی سره چه (ژوان ژوان) نومپنزی دجنګ و جګړې اوداروپا خواته دوروسته ذکرشوی له تښتېدلو نه وروسته دمرکزی اوغربی آسیا خواته قدم په قدم مخکښې راغلل اود ۵۶۰ مسیحی کال په شاوخوا کښې لومړی ځل ددوی نوم دآریانا په شمالی غاړو او شاوخوا کښې دآمو سیند په غاړه کښې واورېدل شو . ترکانو د دغو فتو حاتو نه وروسته د آسیا په پراخه سیمه کښې دوه لویې امپراتورۍ تشکیل کړې چه دشرقی اوجنوبی یاغربی ترکانو دامپراتورۍ په نامه یاد کېږی . «ایتامی» د غربی ترکانو دامپراتورۍ دمؤسس ورور دساسانیانو سره ترون اوسلاوکړه چه دآریانا دیفتلی دولت ځکی چه په غه وخت کښې زیاتره په باختر او سغدیان سره محدود دې شوی وی پخپل منځ کښې سره تقسیم کړی ، او دغه کار سرته ور سېد ، او د تقسیماتو خطاو حدود و ټاکل شول . ترکان د آمو سیند په شیو غاړو کښې مېشت او پرېوتل، او ساسانیانو خپل نفوذ په باختر کښې خپور کړ . مګر دغه اتحادئی ژر خراب اوبرهم شو، اوترکانو باختر هم پخپل حساب له ساسانیانو نه ونیو اوقندوز دترکی امراوو د خانانو مرکز و ګرځېد ، دهغه وخت افغانستان حسابی دولت هما غه دکاپیسا سلطنت وۀ چه دشرقی هندوکش په تولو جنوبی برخوئی نفوذ اوسلطه درلودله ،اومرکزئی دکاپیسی بنار (اوسنی بګرام)وۀ

رتبیل پادشاهان : په داسې حال کښې چه ترکانو دهندوکش په شمالی برخو کښې اوساسانیانو په لمرلوپدیزو برخو کښې نفوذ درلود ، کوشانی او یفتلی خوزاد چه له یوې مودې را هیسی سره ګډوو په دغه وخت کښې یو واحد عنصر تشکیل کړی اوپه کابلستان کښې یو ټینګ سلطنت بنا کړوو چه مرکزیې د (کاپیسی) بنارۀ اوحدودیې دلمرخاته له لوری تر (تاکزیلا) یعنی داندوس سیند هغی خوا پورې رسیده اوپه جنوبی طرف کښې دکرمې دره، د وزیرستان وانیا او داسمعیل خان دیره ورپورې تړلې وه اودلمر پریوالته پلوئی دسیستان ترسرحدونورسیده اوشمال طرف ته دهندوکش پوزی محدود کړی ۀ

«هیوان تسنګ» چینی زیارت کوونکی، چه ددې عصر دآریانا په مختلفو ځایونو کښې شخصا تېر یده، دکاپیسا باچا یو (کشاتریه) سړی یعنی د نجباؤ له طبقې څخه یو توریالی فرد ویلی اودهغه درشات، زړور توب ، عزم اودیانت پروری یې ستایلی ده . دکاپیسا پاچا پرکو چینو امیرانو باندې، چه دده دمملکت په بیلو بیلو ځایونو کښې یې نفوذ درلود، لوی آمرۀ. باید هیر نکړشی چه غربی مؤلفینو همدغه باچا (کشاتریه) اوددمرځو زاد (احفاد) دمسیحی ۹ قرن تر آخره پوری درتبیل رانتیبل او (زنبیل)په نومونو یاد کړیدی چه تول دیوه نوم مختلفه صورتونه دی او صحیح صورت یې (رتبیل) دی . دغو رتبیلانو، څه رنګه چه دغربی اوهندی اوچینی مورخینوله شهادت څخه معلومیږی، د (تاکزیلا) او (ویهند) یعنی د سند دډریاب له دواړو خوا ۆ نه ترزرنج اوبست پورې پوره نفوذ اورسوخ درلود . ددې پراخه مملکت په داخل کښې ، لکه چه اشاره موو کړه، محلی امیران (کوشانو یفتلی) مثلا په بامیان، غرجستان، غور، زمین داور، جاغوری ، غوربند، ګردیز، لغمان اونورو ځایونو کښې موجود وو او سره له دې چه یوډول ازادی یې درلودله خو دکاپیسا او کابل رتبیل باچاهانو له اوامرو څخه یې سرنه غړاوۀ او کاپیسادجنوبی نیمائی افغانستان مرکزی او سیاسی او اداری متصدر ۆ. ددې غوندې امپرانو په قطار کښې دوه ډلې ډیری مهمې دی اوامارت ، په غالبه ګمان سره، دهجری تر لمړنیو قرنونو پورې ددوی په کورنۍ اوځوزاد کښې پاتې شویدی او دغه دوه ډلې دبامیان شیران او دغرجستان شاران دی . هوان تسنګ چینی زائر دهجری ۷ قرن په لمړی نیمائی کښې د بامیانو څخه داخلو تیریدلو په وخت کښې دبامیانو د محلی امیر دموجودیت څخه چه ده پخپله لیدلی ۆ، صحبت کوی . دبامیانو دګلګرک له درې نه دمعبدی، رنګه تصویرونو په ترڅ کښې باچاهی تصویرهم په لاس راغلی دی ، چه موسیو هاکن هغه د (بنکاری باچا) په لقب یاد کړیدی . کوم وخت چه طبری اواصطخری د هجری ۳ قرن په آخر اودځلورم قرن په ابتدا کښې د(بامیانو شیرانو) څخه بیان کوی، مقصد یې بی بی د شبهې څخه دهغه امیر څو زاد دی چه دمسیحی ۷ قرن په ترڅ کښې یې په بامیانو کښې آمریت در لود همدا رنګه په غرجستان کښې، چه په عام او خاص مفهوم سره له هغه څخه مقصد د بادغیس اوسرپل علاقه یااوسنی تول هزاره جات اوغوردی ، محلی امیران «کوشانو یفتلی» موجودووچه د (غرج الشار ) یا (ملك الغرج) اوملك الجبال او (غورشاهان) په نومونو اونورویادشویدی. په (وجیرستان) یعنی دجاغوری په علاقو اوشاو خوا کښې یې هم یفتلی امیرانو یا «کوشانو یفتلی» آمریت در لود . همدغه ډول په کابل او دریزه کوهستان په صدق آباد کښې دیفتل شاهانو مسکوکات موندل شوی او په صدق آباد کښې یفتلی هدیره لیدل شوی

اوځینی آثار تر ښه ایستل شویدی . سر بیره پردی له نورو ځایو نو نه لکه لوګر (سکاوند) زمین داور، زابل (دغزنی چاپیره) د کوشانو یفتلی محلی امیرانو مسکوکات کشف شویدی . دافغانستان اوضاع دمسیحی اووم قرن په جریان کښې له سیاسی نقطې نظره هغسی وه چه بیان مو کړ له . ترکانو دهندوکش په شمالی سیمو کښې اود کاپیسا کشا تریۀ ؤ یعنی رتبیل شاهانو دهغه په جنوب کښې تسلط درلود او دقندز او کاپیسی دوه سیاسی مرکزونو پورې مربوط یو شمیر نور امیران هم موجود وو . بودائی مذهب دپخوا غوندې د مملکت په شرقی نیمائی کښې دبلخ اودقندهار علاقی په نسبت څه په تخارستان او باختر اوځه په کاپیسا او کابل او ګندهارا کښې معمول ؤ، اودهغه په څنګ کښې شیوائی پیروانو اوافتاب پرستواونوروهم عبادت خانې درلودلی، اوپه هرښار اود مملکت په هرابادۍ کښې په سلهاؤ بلکه په زرها ؤ راهبین او روحانیون اوسیدل اودعلم وادب او مستظرفه ضا ئعو له حیثه هره یوه عبادت خانه دعلم اوهنر مرکز او کانون حسابیده. په دې فرصت کښې دوه لویې واقعې پېښې شو لی: یوه دشرق له خوا څخه اوبله دغرب له طرف څخه، اوهغه دمملکت په غربی سرحداتو باندې دعربو دلښکرو اولین تماس او د چینیانو مداخله ده .

دمأخذونو په شهادت سره عربی لښکرو لمړی ځل په ۲۳ هجری کال کښې (٦٤٥ مسیحی سره سم ) د آر یانا په سرحداتو کښې تماس پیدا کړ . څو کاله وروسته یعنی د ۳۲او ۳۳ هجری په ترڅ کښې (٦٥٣ - ٦٥٤م ) دعربو لښکر و دمملکت دغربی سرحداتو په مقابل کښې دخزر دبحیرې دجنوبی غاړونه دفارس دخلیج ترسواحلو پورې، په نیشاپور او کرمان کښې دسوق الجیشی ځایونه ونیول او هلته یې خپلې لښکرې ځائی کړلی چه دټاکلی نخشې سره سم په درې خطو نو کښې (نیشاپور هرات بلخ) دتخارستان په طرف، (زرنج بست رخد ) دکابل او کاپیسی په لوری (قصدار - قندا بیل - بیضا ) ملتان پلومخ وړاندې لاړ شی. رتبیل شاهانو او برهمن شاهانو دملی قوۀ په ملاتړ سره دعربو دپیشرفت په مقابل کښې دوه قرنه تینګار وکړ .

برهمن شاهان : داسلام نه مخکښې افغانستان د باچاهانو وروستنی لړی (سلاله) چه دهغوی د زمامداری دزمانې پېښې زیاتره دعربو لښکرو سره مقابله شمیرله کېږی ، برهمن شاهان کابلی یاکابلشاهان برهمنی دی چه د «رایان کا بلی » په لقب هم شهرت لری. دبرهمن شاهانودسلالې موسس یوداسی شخص دی چه ځینی ماخذ د(کلر) په نامه اوځینو نورو د (للیه ) په نوم یادکړیدی، اوپه غالبه ګمان سره هماغه (کلر) ښه صحیح دی داسړی په اصل کښې د«لکه نورمان» چ دکاپیسا د« کوشانو یفتلی » باچاهانو څخه یوتن ؤ، وزیر ؤ اوپه آخر کښې یې په خپل زیات نفوذ سره خپلی کورنۍ ته باچاهی راوړله اوپایتخت یې د کاپیسې نه کابل ته نقل کړ . ددې سلسلې دوهم باچا (سانته دیوا) دی چه دیعقوب لیث صفاری معاصردی، اوددوی جګړه ، چه په حقیقت کښې دافغانستان داسلامی اوشیوائی مذهب دوه تنو باچاهانو دعقیدې جنګ دی ،د کابل په غربی شاوخوا کښې ونښته اوداسی معلومیږی چه دعربی سردارانو کوشش ځای ته ونه رسید تردې چه کابل دهغه باچا اولښکرو په لاس چه دمملکت له داخل څخه وو، مسلمان شو سره له دې نور کابلستان لامقاومت کاوه او د کابل برهمنی شیوائی لښکرچه هرڅه پاتې ؤ جنوب پلو ګردیز ته لاړ اوپه مقاومت یې پیل وکړ په دې لړ کښې (کلمودیوا) بر همنشاهی دریم باچا، چه دعمرولیث صفاری معاصرؤ، له(فردعان) سره چه دعمرو له خوا دزابلستان کوتوال تاکل شوی ؤ، په لوګر کښې مقابل شو اوشکست یی وکړ اوبل واړې د کابلی برهمنشاهانو د مقاومت اوسلطنت مرکز د ګردیز نه داتاك په څنګ کښې (ویهند) ته منتقل شو؛ په دې ترڅ کښې صفاریان له منځه لاړل ،سامانیان چه دثقل مرکزیې دهندوکش په شمال کښې خپورؤ اوکابل دهغوی دمملکت دجنوبی سرحداتو په څنده کښې واقع ؤ، دکابلی رایانو له خوزاد سره، چه داتاك له غاړویې تر لغمان اوګردیزه پورې نفوذ درلود چنډانې په تماس کښې نه وو او کابلی رایانو هم موقع ومونده له چه خپله قوه نوی کړی اودهغه ځمکو ببرته نیولو لپاره چه دلاسه یې وتلی وی، هڅه وکړی احوال په همدې پول ؤ چه غزنی دغزنویانو مرکز وګرزید، اویوستر سلطنت منځ ته راغی او سبکتګین اومحمود زابلی غزنوی له غزنی اوکابل څخه اوجیپال اوویهند اوپېښور نه دیوبل په مقابل کښې وړاندی راغلل ، او دافغانستان په شرقی برخو کښې دلغمان اوپېښور ترمنځه اوداتاك پرغاړه خوځله جګړې ونښتی اوجیپال مغلوبه شو اوباج یې ومانه اوپه آخر کښې یې خپل ځان له ډیره غمه په اور کښې وسوزاوه دده مرکز (ویهند) محمودزابلی ونیوه اودهندوستان لاره داسلام ددین اودافغانستان اسلامی تهذیب دخپرونې پراخولو لپاره پرا نستل شوه برهمنشاهانو یاکابلی رایانو، چه دعربو داردو په مقابل کښې یې کلك مقاومت وکړ، یولوی لښکری قوت درلود ، او دغه لښکر دعربو له ډیر محتشم لښکر سره، دهامون له غاړونه د کابل تر دروازو پورې، خوځله منګولی ولګولی،اوپه پای کښې هم ترڅو چه دمملکت خپله اولاد منځ ته رانغی اویعقوب لیث صفاری دخپل مملکت له یوې ډلې مسلمانو زامنوسره په جګړه کښې ګډون ونکړ، کابلشاهان پوره مضمحل نشول ، لکه چه عربو سره د کابل اوه ګونی مقابلې اودرایانو دوه سوه کلنی جګړې ددې مدعا شاهدی .

ددې جنګونو سر نوشت هغه وخت یوطرفه شوچه دمملکت خپلو زامنو اسلامی حقه قوانین چه دهغوی آزادواودیانت غوښتونکو روحیاتوسره موافق ؤ ،ومنل اودیومجاهدسر باز په حیث دکلمة الله داعتلالیاره دجهاد ګرته راغلل په دې وخت کښې دکا بلشاهانو مقاومت مات شو اوداهغه زمانه وه چه دزرنج اوبست نه تر غزنی اوکابله پورې داسلامی مقدس دیانت رنا د مملکت یوه ډیره زیاته برخه نیولی وه .

داسلامی زمانې افغانستان :

دخراسان نوم : مخکښې بایدپوه شو څنګه چه دافغانستان پخوانی نوم (آریانا )ؤ اودغه نوم «اراتسفن» د میلاد نه ۲ ومبی په دریم قرن کښې اوموسس خوانی په میلادی څلورم او پنځم قرن کښې او «بیلو» او« بارتولد» اونورو په دې آخرو وختونو کښې ذکر کړیدی (دآریانا مادې ته دې رجوع وشی) همدارنګه داسلام په دوره کښې د«خراسان» کلمې د پخوانی آریاناڅای نیولی اودافغانستان په بازه کښې تطبیق شوی ده . موسس خوانی اوهمدغه راز داسلام دزمانې لیکوالو لکه ابوالفدا ابن خردادبه خواندمیر اوامثالویې خراسان دمشرق او مطلع الشمس په معنا ترجمه کړی اودپخوانی افغانستان په باب کښې یې تطبیق کړیدی .

همدا ډول نننیو شاعرانو او لیکوالو د افغانستان باچاهان لکه ظاهریه صفاریه ، سامانیه امیران اوغزنویه غوریه اوتیموریه باچاهانې دخراسان د باچاهانو په نامه یاد کړیدی ابوالفضل بیهقی، عروضی سمرقندی ، عنصری بلخی عضائری اودهغوی امثالو ټولو دهغه نوم ذکر کړیدی فقط په هجری دولسم اودیارلسم قرن کښې د افغانستان کلمه دپښتونخوا له تعبیر څخه راوتلې اوپه تدریج سره یې د «خراسان» ځای اشغال کړی اوپه پای کښې زمونږ دمملکت ملی اورسمی نوم ګرزیدلی دی .

دافغانستان اوضاع داسلام دظهور سره سم: په میلادی شپږم قرن کښې دافغانستان یفتلی امپراتوری سقوط وکړ اودفارس د ساسانی امپراتوری اوداوراء النهر نوو راجګ شوو تورکانو اوورپسی دچین امپراتوری دسلطې لاس د افغانستان شمالی اوشرق شمالی اوشمال مغربی برخوته رااوښ دشودمملکت په نورو حصو کښې ملوك الطوائفی روڼ کارشوه او یوشمیر محلی امیران منځ ته راغلل .

دافغانستان دغه سیاسی تجزیه اوتقسیم له ډیرو ژبو اومختلفو دینونو سره ، لکه باختری ژبې اوسانسکریت او پراکریتونه یې اوپردی لغتونه دتورکی او چینی او نورو زر تشتی دین اوبودائی اوبرهمنی اوهندوئی ، یوڅای شو . اود افغانستان ملت یې دیوه قرن په موده کښې دبی اتفاقی او پراګندګی کندې ته وغورزاوه . دبلې خوانه دسیاسی اداري د مرګزیت دنشتوالی له کبله داقتصادی مدافعې قوه هم نه وه اواخلاقی او مدنی تغیرات شروع شول دملت اومملکت مشران هم دغښتلودښمنانو له شړلو اودمملکت له خلاصولو څخه مایوسه وو . د افغانستان دغه سیاسی بحران ترمیلادی اووم قرن پوری دوام وکړ همدغه وخت ؤ چه داسلام دین منځ ته راغی اودعربی لښکرو په ذریعه یې په افغانستان کښې نفوذ وکړ اودمملکت په اجتماعی چارو کښې یولوی انقلاب پیداشو .

په افغانستان کښې داسلام ظهور او نفوذ : په ۷ م قرن کښې کوم وخت چه دنړۍ پخوانی تمدن ، چه دیونان له منبع نه یې سرچشمه نیولی وه ، مخ په تیټوالی در لود اودروم امپراطوری په تجز یه اوفساد اخته شوی وه ایتالیې خپله پخوانی برم دلاسه ورکړ او هسپانیې خپل نظم او آبادی بایلوده : لنډه یې داده چه دارو پا لویه برخه دبربریانو دتېر تر تسلط لاندې راغله ؛ په ایشیا کښې هم دفارس امپراطوری دخپل اضمحلال لاره ووهله اودچین او هند پراخه مملکت دآسمانی امپراطوری ترجبروت لاندې تکیده. همدارنګه په افریقا کښې دمصر مملکت په ظلم اوجهل مبتلاؤ او دځمکې په زیاتره برخه کښې فقر او بی رحمی - ظلم او ناپوهی حکومت کاوه ،دامریکې له براعظم نه هم کوم شی اواثر لاسته نه ؤ راغلی ، په همدغسی وخت کښې دعربستان ګرمه اوڅپه جزیره نما په یوه ګوښه کښې داسلام سپېڅلی دین خرګند، اوحضرت پیغمبر محمد (ص) مبعوث اوقرآن کریم نازل شو ، داسلام دین ظهور وکړاوپه بیړه سره شو میلیونه عربی نفوس، چه دافلیمی تاثیراتو په مقتضا یې دجنګ او ادب په چارو کښې دترقی استعداد درلود ، راغوند شول او د اسلامی اصول وړاندې بیولو لپاره یې، چه په توحید او آزادی او مساوات اوعدالت باندې بناء ؤ ، ملاوتړله او ایثار اوفدا کاری یې په دغه لاره کښې دینی وظیفه وګڼله ، هماغه ؤ چه په جګړه کښې دنړۍ دوولویو امپراتوریو (فارس اوشرقی روم) دلښکرو پر مقابل کښې فاتح اوبریالی شول اوپه لس د ولسو کالونو کښې داسلام بیرغ ددمشق اومدائن پرسر پورته شو اودیوه قرن په موده کښې داسلامی فتوحاتو طوفان دقسطنطنیې دډیوال ونوله شانه ،داطلس ترغاړو اودنیل له جرو بیو ( آبشارها) څخه دقزوین ترسینده پورې وړاندې لاړ ؛ او دعربو دوه سوه زره بی ساری لښکر او یوزر اودوه سوه بېړۍ دخزر اوتورې بحیرې له غاړو نه دعرب اوعمان تر سمندره اود هسپانیې له څنډو څخه تر فرغانې پورې وزغاستلی او دمدیترانې اوبه یې سورې کړلی .

په ۲۲ هجری کال کښې دفارس ساسانی امپراطوری له پنبو ولویده، اویزد ګرد ددغه مملکت باچا افغانستان ته پناه راوړله دعربو لښکرو پسې راغی اوپښتنو لاره ورته پرانستلی پرېښوده؛

لحکه،غوښتل یې چه پخوانی دښمن دنوو میلمنو په مرسته له پنو وغورزوی . همداؤ چه یزد گرد دتور کو له قواؤ سره داسلامی لښکرو په مېرنۍ جگړه کښې شکست و خوړ او دچین دامپراطوری لښکروساسانی باچاته له کومك ورکولو نه لاس واخیست پښتنو هم فرصت له لاسه ور نکړ په ۳۱ هجری کال کښې یې یزد گرد په مرو کښې وواژه اوپه دې توگه یې مملکت دساسانی ، تور کی اوچینی درې گونو قوتونو له استیلا نه خلاص کړ ؛ مگر په عوض کښې یې یوغښتلی اونوی حریف پیدا کړ چه فاتح اوایماندار ه لښکر اوپیاوړی افسران یې پخپل واك کښې درلودل . ترهغه وخته پورې چه پښتنو یزد گرد له منځه یووړ ، دعربو لښکر دنامتو افسرانو په مشر توب ( لکه احنف ، سهل ، عبدالله، عاصم ، حکم اوساریه ) د خزردبحیرې څخه د عمان تر سمندره پورې په افغانستان کښې راتوی شواومشهور ښارو نه لکه مرو ، نیشاپور ، کرمان ، زرنج اونورې لاسته کړل او عربی لښکرو دهرات اوبلخ په خط کښې حرکت کاوه ؛ لکن پښتنو مجال ورنکړ، په ۳۱ هجری کال کښې یې یزد گرد وواژه اوپه ۳۲ کال کښې دقارن هراتی په مشرۍ دنیشاپور په عربی مرکز باندی حمله وکړله ؛ قارن ابرشهر (نیشاپور ) ونیوه اوخلکو نائب ربیع بن زیادله سیستانه وشاړه اوپه دې ترتیب د عربواو پښتنو کلکه جگړه ونښته اودوه سوه کاله اوزده شوه ترڅو چه په اخر کښې دپښتنو په بریالیتوب اددمملکت په خپلواکې پای ته ورسیده .په هرحال عرب دمسلې په جدیت اواهمیت باندې وپوهېدل اوپه افغانستان کښې په خپلولمړنیو فتوحاتو باندې ونه غولېدل . اسلامی لښکرو خپل کراره اودوامداره پرمختگ تعقیب کړاو په بیړه باندې یې قارن هراتی دشپې په یوه جگړه کښې له منځه یووړ . پښتنو په ۳۷ هجری کال کښې فعالیت بیا شروع کړاود نیشاپور په سرحداتو کښې یې د خراسان در وازه دعربو په مخ وترله اودهغوی حاکمانو ته یې نوره لاره ور نکړ له . په ٤٧ هجری کال کښې اسلامی راشده خلافت عربی اموی امپراطوری ته انتقال وکړاودعربو یرغلونه په افغانستان باندې زبات شول او حکم بن عمرو غفاری د خراسان عربی امیر که څه هم دغور په جگړه کښې ناکام شو مگر دعربو مرکزیې د نیشاپور نه یو قدم راوړاندې په مرو کښې قائم کړای شو .په ۵۱ هجری کال کښې پښتوس زره عرب له خپل بال وبچ سره شمالی خراسان ته راغلل اودائمی استو گنه یې اختیار کړله ؛ اوپه دې دول یې خپله ربښه په افغانستان کښې خښه کړه .

سره له دې د هغوی نظامی اوسیاسی نفوذ په مستقیم صورت سره لاپه نیشاپوراومروې باندې محدود ؤ اونور پښتنی ولایتونه دمحلی حاکمانو تر اداري لاندې وو .

په ٦١ هجری کال کښې د مملکت محلی مشران ، چه دعربو پرضد به یې نا څا په حملې کولی ، د خوارزم په یوه ښار کښې دمسلم بن زیاد دغربی خراسان حاکم درالپزلی افسر په سخت او هیبتناك هجوم باندې و او وښتل اوورپسې ملی انقلابونه په هره کونبه اوځنډه کښې ونښتل ؛ په ٦٥ هجری کال کښې پښتنو وکړای شو چه دعربو نفوذ لاندې منطقوخپلواکی د عبدالله بن حازم، خپل عربی حاکم ترقیادت لاندې اعلام کړی . په ۷۲ هجری کال کښې دغه د خپلواکۍ اعلان دبکیر بن و شاح ، عرب د خراسان یوبل حاکم په واسطه تکرارشو ؛ لکن هیڅ یوه دوام ونکړ اوځای ته ونرسید. په ۷۷ هجری کال کښې امیه،دخراسان عربی حاکم دبلخ په ښار باندې لښکر کشی وکړه ، مگر دخلکو مدافعې ده ته ماتې ور کړه او مجبوریې کړ چه بېرته مروې ته وگرزی او ور باندې قناعت وکړی .

ددمشق پایتخت د پښتنو له اوزدې مدافعې نه ستومانه شو او دکاریو طرفه کولو لپاره یې خپل زښت ډېر مشهور افسر ، قتیبه بن مسلم باهلی له مکملو لښکروسره افغانستان ته راواستاوه. داسړی یوه موده مجبور ؤ چه له ملی مشرانو سره لاس اومنگول نرمه کړی . که څه هم قتیبه و کړای شو چه دبدخشان ، بلخ ، میمنې اوشبرغان وطنی حکمرانان ترنیزك بادغیسی غونډې سړی پورې مغلوب اودکابلستان اوخوارزم حاکمان په باج ورکولو محکوم کړی اود فاریاب ښار ته اور واچوی اود مملکت په زرهاؤ مدافع نفر له منځه یوسی ، خوسره له هغی دی پخپله دعربو دلښکری اودخراسان د ملی انقلاب په اثرووژل شو اوله ده نه وروسته عربی مشرانو، چه دری پنځوس زره جنگی مړونه یې په نیول شوی خراسان کښې درلودل ، کوم مهم کار په افغانستان کښې اجرا نکړ اوزیاتره په ماوراء النهر باندې بوخت شول ؛ تردې حده چه اسدنیول شوی افغانستان مشهوره عربی حاکم هم دغور د ولایت په لښکر کشی کښې دوه خلې ناکامه شو . همدارنگه د عربواتلس زره رالپزل شوی لښکر ، دتخارستان په ولایت کښې . په ۱۱۳ هجری کال کښې ، له پوره بریالیتوب حاصلولو نه عاجز راغی، نودیوقرن نظامی اوسیاسی کوشش اومجاهدې په نتیجه کښې بیاهم د عربو مستقیم نفوذ دنیشاپور اومروې په ولایتونو کښې محدود پاتې شو اودمملکت نورحاکمان یا بیخی آزاد او مستقل وو اویاله عربو سره په یوه ټرون کښې داخل وو اوپه باج ورکولو یې اکتفا کوله .

عربو پخوادجگړې محاذ په افغانستان کښې په مختلفو جبهو باندې ویشلی ؤ . دمملکت شمالی برخه دخراسان په عنوان دبهلو حاکمانو اوقوماندانانو تر لاس لاندې اداره کیدله . دمملکت غرب اوجنوب له کرمانه تر سیستانه اوبلو چستانه په جلاقوماندانۍ او حکومت پورې تړلی ؤ چه دکابل سره هم جنگیده . دسند دولایت په جنوب شرقی برخه کښې یې یوه مخصوصه نظامی او

ملـکی اداره قائمه کړله لکن په دې ټولو دری واړو جبهو کښې عربو څه ناڅه مشابه نتیجه واخیستله؛مثلا د غرب او جنوب په جبهه کښې دعربو نامتو افسران لـکه سهل بن‌عدی ، عبدالله بن غسان ، عاصم بن عمر ، حکم بن عمر ، مجاشع بن مسعود ربیع بن زیاد ، عبدالرحمن بن سمره اونور څوند د افغا نستان دخلـکو کلکومدافعاتوسره مخامخ‌شول او که څه‌هم دوی کرمان، زرنج اومکران ونیول‌خوسره له‌هغې دوی اوددوی اخلاف لکه عبیدالله ، عباد ، یزید ، ابو عبیده ، عبدالعزیز،عبدالله ، عبیدالله بن ابی بکره اوعبدالرحمن بن‌اشعث ټول دمشهور قتیبه غوندې په‌نظامی اوسیاسی جنگ کښې دکابلستان‌په‌مقابل کښې ناکامه شول اودځانی اومالی تلفاتوپه‌منلوسره فقط ځینی وخت دخراج په‌اخیستلو بریالی‌شول اوبس. هماغه‌ؤ چه‌په‌آخر کښې د کابلستان نه‌منصرف اوپه سیستان‌باندې قانع‌شول ؛ مگر په‌هغه ځای کښې یې هم نفس په‌استراحت ونه ایست اوتل له‌محلی انقلابونو سره گرفتاره‌وو . په‌دریمه جبهه یعنی سند کښې که څه‌هم د عربو لمړی اودوهمه‌حمله‌دبحر له‌لارې ناکامه شوه ، لیکن دمحمدبن قاسم ثقفی ، دعربودځوان اومشهوره اقدر ددریمې حملې په‌اثر سند اوملتان په۹۳ هجری کال کښې یوځای د اسلامی لښکروپه په‌لاس کښې و لویدل . سره له‌دې هم‌خلك‌ترډیره ځنډه مطیع پاتی نشول اودمحمد بن قاسم اخلاف لـکه حبیب بن مهلب ، عمروبن مسلم اونور له‌سختوجنگونوسره‌دچاره‌شول ، دقندابیل جگړه . ددې جنگونو له مشهورو پینو څخه‌ده چه دخلیفه یزید بن عبدالملك له لښکرونه ډډ پکښې ووژل شول . همدارنگه جنید بن عبدالرحمن اوحکم بن عوانه دسند عربی حاکمان په تکرار باندې دخلـکو له‌جنگونو سره مخامخ شول .

په‌دې ترتیب سره له ۲۳ هجری کال راهیسی‌تر ۱۲۹ پورې په‌سل کاله‌موده کښې دعربو اوپښتنو ترمنځ سیاسی او نظامی جنگ جاری ؤ . که څه‌هم عربو په‌دې اوږده موده کښې ټول افغانستان ونشو نیولای،امابنیتانه هم دهغو ځایونو په خلاصولو سره، چه‌عربو نیولی‌وو، بریالی‌نشول ؛ ځکه چه‌ملی قوه تیته‌وه اود مملـکت ولایتونه په‌ملوك‌الطوائفی سره وېشل شوی وو اوله‌همدې گډله اداری اونظامی‌مرکزیت‌نه‌ؤ ؛ او دقوم‌انفرادی فعالیت دیوې سترې امپراتوری په مقابل کښې ، چه د ځمکې دمخ لویه برخه‌یې په‌لاس کښې‌درلوده،ځای ته نشوای رسیدلای لاکن په‌آخر کښې پښتنوله‌یوې حساسې نقطې سره تماس‌وکړ اویوسړی دهغوی له‌منځه راپورته شوچه غوښتل یې د غه ټول عیبونه له‌منځه لیرې کړی .

ابومسلم خراسانی : ابومسلم‌دځلمیتوب په وخت کښې د سیاست پرخط قدم کښبود . دده زیات عقل‌اوتینګ عزم سبب شوچه ژر دملی فعالیتونو مرکز او محور وگرزی ، ده‌دبنی عباس له پټ گوندسره،چه‌دبنی‌امیه ، د سلسلې خونی دښمنۍ ، تماس پیدا کړ اودهغوی دکورنیر نوم‌یې ، چه‌داسلام‌دحضرت پیغمبر ځوزادته منسوب‌ؤ ، دخپل سیاسی منظور داجرا کولو آله وگرزوله‌او سمدستی یې‌داسلامی افغانستان له مختلفو ولا یتونو څخه لـکه هرات، پوشنگ، مرغاب ، مرو ، نیسا ، ابورد ، توس ،سرخس بلخ ، چغانیان، غور ، تخارستان ، او نور سل زره نفره‌داوطلب لښکر راغوند کړل اودشپنشاه له لقب سره یې خپل امارت‌په ۱۲۹ هجری کال کښې دبنی امیه د امپراتوری له خلعې سره بولځای اعلان کړ . د ابومسلم لښګرې زیاتره سور یې وی او ځینی خر سواره وی اوتوربیرغ یې‌درلود او اکثرو یې توري جامې اغوستې‌وی .

څرنگه چه ابومسلم نشوکولی دهماغې ورځې د عالم اسلام له ذهنیت سره سم اسلامی خلافت د خپل ځان لپاره وغواړی ، نو ناعلاجه یې عباسی سلسله منځ‌ته راوایسته او سمدستی یې په حربی عملیاتو لاس پورې کړ . ده وگرای‌شو چه په‌بیره سره دعربو په زرهاؤ نفر اموی طرف داران په افغانستان کښې ستې کړی‌او خپل ملی حکومت له‌بدخشانه تر نیشا پوره اوله سیستانه او بلوچستانه ترسنده‌پورې برقرار کړی. په هماغه‌وخت کښې یې دخپلو لویو لښکر کشیو په اثر دفارس ، عراق او ماوراءالنهر ټول مملکت ونیوه او اموی دولت‌یې محو کړ او عباسی خلافت یې په بین النهرین کښې تاسیس کړ .

ابومسلم ، چه‌دنیر له‌لویومشرانو اودپښتون عنصردلیاقت یوه‌پوره نمونه شمیرل‌کیږی ،نه‌یوازې داسلامی‌افغانستان‌باچا اودماوراءالنهر اوفارس شهنشاهؤ بلکه دبلخ بر مکی کورنیر اویوشمیر پښتنی لښکرو په‌واسطه‌یې دعباسی خلافت په مرکز کښې داسلامی سترې امپرا توری چارې‌هم پخپل لاس کښې درلودلی؛ لکن کوم وخت‌چه‌دحج‌فریضه‌یې ادا کړ له او غوښتل یې چه‌له‌فارس نه‌افغانستان ته‌راوگرزی، دمنصور ، دده ددوهم لاس کښېنولی خلیفه له‌غوښتې سره سم بین‌النهرین ته ورغی او دډګیر اوخیانت ترپردې لاندې ووژل‌شو ؛ دامهال دعربو دتسلط لاس افغانستان ته بیارا اوزد شو؛ مگر پښتانه دمملکت په‌هره‌حصه کښې دعباسی امپرا توری پرضد مسلح‌شوه . فیروز ملقب په‌سنباد هراتی د(تیسس) باد غیسی استاذ، محمدسیستانی، اذرویه سیستانی ، حکیم مقنع مروی، حضین‌بن‌رفادرون جولی، بشر سیستانی‌اوامیر حمزه سیستانی غوند دافغانستان‌ملی‌مشرانۍ چه دهجری دوهم قرن تر آخره پوری له عباسی‌دولت سره په جگړه بوخت شول .

له‌بلې خوانه دپښتنو برمکی کورنیر دبغداد دخلافت په مرکز کې د خراسان دنفوذ د تقویې دپاره مجاهده کوله او د دولتی کارونو ټولې واگې ئې په لاس کې نیولې وې ، فضل بن‌یحیی

پخپله افغانستان ته‌دعباسی‌حاکم په‌حیث وارد اود خپلوهموطنانو د رفاهیت او ابادی‌ د پاره یې ډیر زیات کوشش وکړ . مګر هارون الرشید خپلفه پرې نه‌شود ، او دامشهوره کورنۍ یې متقرضه کړه او برمکی جعفر یې په دار کړ فضل او یحیی یې په‌زندان کې په‌مرګ محکوم کړل ،همدارنګه یې دبرمك کورنۍ له‌مینځه یووړه اوپخپله‌یې د افغانستان او ماوراءالنهر دانقلاباتو داور دوژلو دپاره دخراسان و خواته حرکت‌وکړ . سیستانی امیرحمزه ددې ستر پادشاه دمقابلې دپاره ډیرش زره ملی عساکر چمتو اوله زرنج نه‌یې دنیشا پور او توس په لور حرکت وکړ ها رون پخوا له جنګ نه په ۱۹۳ کال کې په خراسان کې مړ اوپه توس کې ښخ‌شو . پښتنی مشران پاخېدل او دهارون دزوی دبغداد دنوی‌خلیفه محمد امین په‌ځای باندې دمرو په ښار کې دهارون بل زوی چه مامون نومیده اودمور له پلوه هراتی‌وؤ داسلام په‌امپرا توری‌ باندې راپاڅاؤ ، دپښتنو ملیونو مشر په‌دې عملیاتو کې فضل بن سهل خراسانی معروف په‌ذوالر یاستینؤ چه‌یې ژروکړای شو د برمکی کورنۍ ځای په‌نیه ټوګه سره‌ډک کړی. بلکه معناً د اسلام د امپرا توری‌ واګی دپښتنو په‌لاس کې ورکړی فضل دغوی سوقیاتو په اثر دپښتنودمشهور افسر (طاهر هراتی) ترقیادت لاندې چه‌مشهور په‌ذوالیمینینؤ ، بغداد اوعربی هیوادونه ونیول او دامین خلیفه سرې ړېرې کړ . همداؤ چه خراسان د اسلام دامپرا توری‌ مرکزشو . ولی دافغانستان دا سیاسی تسلط ډېر ونه پائیده‌او عباسی مامون ژرترژره فضل په چال اوحیله‌باندې په سر خس کې د نورو په لاس له منځه یوړو او بیاېې مجدداً د اسلام دامپرا توری‌ مرکز دافغانستان له‌مروې‌نه د بین‌النهرین بغداد ته‌نقل کړ .

سره له دې هم پښتانه بی زړه نه شول اوتردغه‌وخته‌دطاهر ذوالیمینین پشان سړی د دوی لا به‌بغداد کې ژوندیؤ اوددوی امید یې دځان خواته کښاوه، طاهرمآل اندیش ،مجرب اوعاقل سړیؤ، دی د پښتنو سرتیرو میړونو له‌سر ګذشت نه دجنګ په میدان کې دعربو دسلطې په‌مقابل کې خبر اودبرمکی او سهل خرا سانی دکورنۍ له کیسو نه مطلع ؤ ، نو میانه لاره یې انتخاب کړه، اودبغداد په دربار کې یې زیاته سعی‌وکړه ترڅو چه‌دمامون له‌خوانه‌دخراسان امیر مقرراوپه۲۰۵هـ کې افغانستان ته‌ورننوت .کله‌چه‌یې دامارت یوکال تیرشو اومفتوحه افغانستان یې له تخارستان نه تر سیستان پورې تا مین او منظم کړ ، په ۲۰۶ هـ کال کې یې داسلامی افغانستان استقلال اعلام کړ او د عباسی خلیفه نوم یې له خطبې څخه وغور ځاوه . په‌دې ترتیب وروسته د دوو پېړیو له‌هڅې‌او کوشش څخه په‌پای کې‌افغانستان وکړای‌شو چه‌خپله خپلواکی د هیواد د شمال او لوېد یځ ( مغرب ) په مفتوحه مناطقو کې د عرب بانو په‌مقابل‌کې تحکیم او اعلان کړی .

دعربو او پښتنو اغېزی یو په بل کې : عربان له‌دوو سترو نعمتونو نه برخورداره وو ، یولکه‌اسلام‌غوندې ټینګ اورزین دین بل‌لکه عربی‌غوندې حیرت‌انګېزه اوقوی‌ژبه چه دا دواړه یې‌دمینې اوایمان په‌سیوري کې دقرآن‌په‌خپرولوژرترژره‌دنړۍ ډیرو لویو او معمورو برخو ته ورسول . هغه‌و لسونه‌چه‌له‌دې دواړو سره مخامخ‌شول ځینو بلکل‌خپل ملیت دلاسه ورکړاویو عربی ملت ځنې جوړشو لکه‌مصر اونور، او ځینو وروسته دپېړیو له‌تېرېدو څخه په‌ډیر زحمت‌وکړای شوچه ځانونه له‌دې تحلیل اوتمثیل نه‌وساتی ،لکه‌دفارس هیواد ، په افغانستان کې هم‌دغه‌ذوقی مبارزه وشوله اودې شماره جګړو په نتیجه کښی اودعربی مهجرونو (کلونی) په‌جوړولو په شمالی افغا نستان کې بالاخره پښتانه دعربانو دژبې سره آشنا او د اسلام ددین په‌ښېګڼو پوه شول، اوداسلام په‌مقایسه کې دنورو لر غونو اوزړو دینونو سره یې په‌هیواد کې دلومړنی‌دین‌په‌منلو پیلوکړ اوپه‌داسی حال کې‌چه دوه سوه کاله دعربو د سیاسی سلطې پرضد وجنګېدل پخپلو پنځو سوو کلونو کې یې ستر میړونه عالم‌ته تقدیم کړل . کله‌چه پښتنو په لومړی‌ هجری‌پېړی‌ کې داسلام په منلو پیل وکړ د عربو په ژبه اواسلامی محدوده علومو کې لکه قرآن، تفسیر ، حدیث اوفقه وړاندې ولاړل اوداسې نومیالی لکه امام اعظم ابوحنیفه نعمان کابلی الاصل امام‌احمد بن‌حنبل‌مروزی ابوداودسجستانی ابن‌المبارك مروی حافظ ابن‌عبدالله محمدبن‌نصرمروزی اوددوی امثال‌یې تردیمې هجری‌پېړی‌ پوری اسلامی نړۍ ته تقدیم کړل همدارنګه کله چه‌اسلامی عربان په دهمه هجری پېړی‌ کې له لومړنې بساط څخه ټوټل اودیوه نوی اسلامی تمدن د جوړولو خواته‌یې ګام واخست اودنورو ملتونو د منلو دپاره حاضر شول پښتنو ډیر ستر نومیالی په‌علم اوفن کې داسلام تمدن‌ته ورکړل ، لکه ابوموسی ، جابرین حیان خراسانی د دوهمې پېړی‌ معروف کیمیادان ، محمد بن موسی خوارزمی ددریمې پېړی‌ ستر ریاضی‌دان، ابن قتیبه مروزی د همدې قرن جامع عالم اوداسی نور، پښتنودخپلو برجسته میړونواو کورنیو په‌واسطه‌دافغانستان لرغونی (قدیم) تهذیب اوتربیت دافغانی متمرجمینو په ذریعه مختلف علوم دعربو جامعې او اسلامی تمدن ته ورننه ایستل په‌دوهمه هجری پېړی‌ کې ؤ چه افغانی برمکی کورنۍ د«منکه» کتاب په طب اود«سندهند» کتاب په نجوم اوفلکیاتو کې د«سندباد» دقیصی‌سره دعربو په ژبه وروړول او برمکی یحیی‌ؤ چه‌یې و فرمایل: ترڅوچه یې دهند پول پول مذاهب په‌یوه کتاب کې تدوین کړل او سودمند بوټی یې دسند

دسیند له‌شاوخوانه بغدادته راوړل ، اوبـرمکی موسی ، یوسف برمکی، محمد بن‌جهم برمکی اوفضل بن سهل سرخسی وو چه شخصاً یې پهلوی کتابونه په‌عربی ترجمه کړل همدغه پښتانه ووچه دافغانستان انشا ترسل، نجوم او ریاضی تهذیب اوتربیت یـې عربوتـه ورداخل اوهـم‌یې هغوی دهند وستان دالهیاتو اوطب او دفارس دتاریخ او قیصو سره آشنا کړل همدا ډول پښتانه‌دعربانو په‌ژبه‌او ادبیاتو کې‌دومره مخکښی‌ولاړل چه‌داسی شاعران‌لکه بشاربن بردتخارستانی (دوهمه پیړۍ) او ابوالفضل احمدبن‌ابی‌طاهرطیفورخراسانی (دریمه پیړۍ)اوابوعطای‌سندی اوداسی نورئی مینځ ته‌راوړل همدا ډول تر هغو لا دافغانستان محلی‌ژبی لـکه دری، پښتو، سکزی اونورې دهیواد په شمـالی برخو کې دنورومحلی‌ژبو پشان دولس په مینځ کې مروجه‌وې اویوازی عربی‌دافغانستان د مفتوحه مناطقو رسمی اوعلمی ژبه منل‌شوې‌وه په‌دې‌وخت ددری منظو می یوډول کلیوالی سندرې وې چه‌یې په‌ورو ورو عربی لغات قبول او په‌پای کې‌یې‌په‌دریمه پیړۍ کې دفارسی‌نوی ادبیات په افغانستان کې مینځ‌ته راوړل اوښایې چه‌محمدبن وصیف سیستانی به پـدی نوی ژبـه کښی لومـړنی شاعر وی چه ده یعقوب صفاری دافغانستان ټولواک پـه همدې نوې ژبـه وستـایـه . په دې تـرتیب افغانستان په‌لومړۍ اودوهمه هجری پیړۍ کښی له عربانو څخه داسلام دین اوعربی ژبه په‌شمال غرب، جنوب اودهیواد په شرق کـې ومنله اوپه بدل کې‌یې خپل پخوانی تربیت او تهذیب، علوم او فنون دهند اوفارس دعلومو سره‌دخپلو ترجمو په واسطه یوځای په‌عربو اواسلامی تمدن کې داخل کړل . او هم یې ددوه سوه کلنیو جنګونو ددوام اوخپلې ژبې دروزنې په واسطه له خپل ملیت نه مدافعه اودخپلو پوهانو اوسیاسی کورنیو او جنـګی میړونو په واسطه لـکه برامکه، بنی‌سهل ابو مسلم او طـاهر ذوالیمینین دبنی امیه متعصبه اوسو چه عـربی امپرا تـوری منقرضه اوعباسی دولت یې چه دعربی زبانو مور خینو په قول لـکه حافظ، ابن رقیه اونور له عربی نه زیات یو خراسانی دولت ؤ، تینګ کړ.او بالاخره یې په‌دریمه هجری پیړۍ کې داسلامی افغانستان خپلواکی‌دهراتی طاهریه کورنۍ په‌واسطه اعلام اودسیستانی صفاری پاچاهانو په واسطه تقویه کړه اوپه هغې کې‌یې تراوومې‌پیړۍ پوری دسامانی بلخی او غزنویانو، اوغوریانو پاچاهانو په واسطه داسلام دین په ټول افغانستان اویوه برخه دهند وستان کې خپور اود افغانستان دری ژبه یې معراج ته ورسوله، اوپه نتیجه کې داسلام د دورې افغـانستان دمغولو تریرغل پورې‌داسلامی نړۍ یوله مترقی ترینو ممالکو څخه‌شمیرل کیدو او ددوی‌اخلافو درې‌سوه کـاله نورهم‌داسلامی افغانستان دین اومدنیت‌دهندوستان‌په سترهیواد کې‌ترویج کړ .

## د عربانو داداری طرز پـه مفتوحـه افغـانستان کې :

درا شده خلفاوو په دوره کې له ۲۲ نه تر ٤١ هجـری کـال پوری دعربانو سوقیات په افغانستان باندې و شول ، نظامـی قوماندان دملی حاکم او قاضی او دامیرالمومنین د نـائب پـه توګه ؤ، دجوماتونو جوړول اواسلامیت‌تبلیغ‌یې‌په مفتوحه‌ځایونو کې تر کـتنې لا ندې و ؤ . مـا لی او نظامی کـارونه یې کول، نمایندګـانو یې هم په وړو منطقو کې کټ مټ همـدا وظیفی سرته رسولې، دعربانو اداری تشکیلات په دې وخت کې سیط وو، اوپه ورو ورویې پراختیا موندله ، دعربو د لښکرو مشران هم په‌دې دوره کې داسلام دروح او حقیقت سره موافق اودلوړو افکارو، عدالت او ښو اخلاقو خاوندان وو، اودپردو په‌مقابل کې یې دریې شرطونه کښودل (١) داسـلام قبـلول ، په‌دی صورت کې فاتح اومفتوح مساوی حقوق لرل (٢) جزیه ، په‌دې حال کې مفتوحینو تاکل شوی پیسې وړکولی او په‌نورو داخلی اودینی شو ناتو کې آزاد وو (٣) جنـګ، په‌دې صورت کې هرځومره مال اومېړونه چه دعربو لاس ته ور تلل ددوی دغنیمت‌جزء‌وو، خوسره‌له‌دې هم‌غربودافراط ،تیری‌اوسفاکی‌څخه ځان‌ژغوره. دعربو دادارې ترتیب دثانی خلیفه‌رضی‌الله‌عنه له عهده دثالث خلیفه تروخت په مفتوحه افغانستان کې دوام لاره. دځلورم‌خلیفه رضی‌الله عنه په‌وخت کې دعربو نفوذ په شمالـی افغانستان کې ولویدو اوپه‌غربی افغانستان کې د عربو زیاتره سپاهیان دعربی خوارجو سره په جنګ بخت وو، د عبدالله بن زبیردخلافت په‌وخت کې‌دده دحاکم‌نفوذ اواستوګـنه دافغانستان په یوه ګوټ کې‌دپره جز ئی اوموقتی اوخالی له مهموتاثیراتو څخه وه دا رنګه دعربوادارې مرکـز دهغې ورځې په‌افغانستان کې لومړی نیشاپور اودوم زرنج شمېرل کېدو . دبنی امیـه خلفاوو په دوره کې چه دعربو در جعت عصرؤ دنژادی تعصب خواته داسلامی مساوات روح متزلز له شو اوملی او عشیروی تعصب بیامینځ‌ته راغی، هغه شانداره فتوحات چه دې سلسلی په نړۍ کې وکړل د عربو غروریی ډیر زیات کړ. هغوی معتقد شول چه عرب دانتساب له‌مخی و حضرت پیغمبر اسلام‌ته اودژبی دسپېڅلی توب او داخلاقو دلوړوالی له مخې دنړۍ پرتـولو ملتونو یعنی عجم (کـنـګ اوغیر عربی‌عنصر ) باندې تر جیح لری. نوځکه حکام، قضات اودټولې امپراتوری‌مشران دعربو له نژاده تـاکل شوی وو اودمفتوحه مللو سره په نـاغېړی (خشو نت) رفتار کېدو، په نتیجه کی پخوانی اسلامی خلافت په یوه متعصبه عربی امپراتوری‌بدل‌شو ، البته دادارې طرز په عجمی مللوکی بی عکس العمله پاتی نـه‌شو او داول وار دپاره شعوبیه مسلك مینځ ته راغی چه لومړی یی عرب اوعجم مساوی او وروسته یې هرملت ترعربونه ښه وباله، که څه‌هم‌چه

به‌ادمنیی استبداد دظهور اوفعالیت موقع‌دې فرقی ته نه‌ور کوله خوسره له‌دې یی هم ریښه دومره قوی شوه چه دبنی عباس په دوره کی په‌میدان کی ودرېدل او ورو سته له هغه نه ؤ چه دقدریه، راوندیه اوضرمیه فرقې‌هم پیداشوې. په‌هرحال دامویانو اداری مرکز په‌افغانستان کی، دمرو ښارو تاکل شو اودعربو حاکم‌دامیرخراسان یاعامل‌اووالی په‌عنوان‌مستقیماً‌دمشق په‌خلافت پورې وترړل شو، دا حاکم د هیواد دوالی او عسکری سپه سالار او د خلیفه د نائب په حیث د لمانځه اوجهاد داقامه کولومامور ؤ، اودافغانستان‌زیاتره‌ولایات‌یې لکه سیستان ،بلوچستان اوسند تر کنټې لاندې‌وو،کله‌کله به‌دخراسان امیر په‌بین النهرین کیناست اوله هغه‌ځایه به‌یې دخپلو نائبانو په واسطه‌مفتوحه‌افغانستان‌اوکله‌افغانستان‌اوفارس‌دواړه‌اداره کول ، ولی‌داترتیب‌ثابت‌نه‌ؤ اوکله به‌دسیستان،بلوچستان اوسند حاکمان اوحتی مستوفیان (دخراج عامل) مستقیماً د دمشق له مرکز نه تاکل اورالېږل کېدل اودې لاندې رئیسانو د عربې حاکمانو سره‌افغانستان اداره‌کاوه ،مستوفی (خراج‌عامل) قاضی ، حاجب (دوالی پیشکار) امیر شرط (کوتوال) او منشی او دمسجد ونو امامان اودعربو دینی پوهان هم‌تفسیر، حدیث ، فقه ، لغت اود اسلام ددین دتبلیغ دمدرسو په جوړولومصروفؤ اما دافغانستان په جزیه منونکو ولا یاتو کې داترتیب عملی نه ؤ او هغوی دخپلو محلی حاکمانو تر اداړې لاندې خپلوا کی اوفقط په کال کې یې تاکل شوې پیسی دخراسان والی ته ورکولې اوکله به‌یې دهغوی تر ځنګه د عربو نماینده له خپلو ملګرو سره هم پخپل ځنګ کې مانه . په ځینو ولا یتونو کې عربی عسکری ټولګیو هم‌استوګنه لرله اوپه‌ځینو نورو ځایونو کې یې عربی کلونی ګانی جوړولې چه دمسجدونو په‌تعمیر اوداسلامی شعائرو په تدریس اوپه‌نتیجه کې داقتصادی، اجتماعی اومذهبی‌روابطو دتحکیم دپاره یې دبومی خلکو او عربو ترمنځ ستر خدمتونه کول خوسره له‌دې هم په ټولو دغو ولایتو نو له‌بدخشان نه‌تر مروې اونیشاپور پورې اوله کرمان اوسیستان‌نو تر بلوچستان اوسندپوری، که څه هم د افغا نستان دملت ځینو برخو داسلام دین منلی‌ؤ، د امویانو د امپراتوری سیاسی سلطی ته ځا ن ونه‌سپارله‌اوپه‌یوه اوزده مبارزه‌بوخت‌وو، په‌پای کی‌یی هغه‌سترې امپراتوری نسکوره او عباسی دولت یی روی‌کار کړ .

د عباسیانو په دوره کی وروسته دابومسلم له وژل کیدلو څخه ، دعربو اداری تشکیلات په افغانستان کی نسبت دامویانو اداری تشکیلاتوته وسعت پیدا کړ ، اما څرنګه چه‌دینټنو نفوذ دعبا سیانو په دولت کی زیات شوی ؤ نو له‌دې کبله د مفتوحه افغانستان په اداره او هم دعباسی امپراتوری دمرکز په نورو اداری شئو ناتو کی د پښتنو میړونو لاس زیا تره داخل شو ، برمکی کهول (خاندان) دبغداد په پایتخت کی او دسهل کهول په افغانستان کی او همدارنګه په‌لس هاوو نفر نورهم له‌پښتنی میړ ونو څخه دهیواد دحا کمانو په حیث کارته داخل شول ، نو له‌دې کبله دامویانو ددورې پخوانی فشار نه‌حس کېدو .

هغه مالیه چه‌له مفتوحه افغانستان نه دعبا سیانو د دولت په نامه اخستل کیدله ښیی‌چه افغانستان دهغی‌وخت له معمور ترینو اسلامی‌ممالکو څخه‌شمیرل کیدو مقدسی‌لیکی: چه‌دخراسان کلی دعراق له‌ښارونو څخه آباد دی.یوبل وایی دافغانستان اوفارس مالیات‌دعباسیانوامپراتوری دټولو عائداتونیما ئی ته رسیدل . په‌عباسی دولت کی دمفتوحه‌افغانستان دولایاتومالیات عبارت له دالاندی‌ارقامو څخه دی .

| | |
|---|---|
| د کرمان ولایت | ٤٠٠٠٠٠٠ درهم |
| د مکران ولایت | ٤٠٠٠٠٠ « |
| د سیستان ولایت | ٤٠٠٠٠٠٠ « |
| د سند و لایت | ١١٠٠٠٠٠٠ « |
| دخراسان‌شمالی‌ولایت | ٢٢٨٠٠٠٠٠٠ « |
| جمله | ٢٤٧٤٠٠٠٠٠ درهم |

نتیجه : په دی ترتیب له ۲۲ هجری کال‌نه‌تر ۲۰۵ هجری‌د افغانستان دملت سړوکار دعربو د ملت سره ؤ اوپه‌نتیجه کی دافغانستان په‌شمالی،غربی، جنوبی او جنوب شرق کی داسلام دین اودعربانو ژبه سره له اسلامی‌علومو خپره شوه .

اوخرنګه چه دعربو غښتلی ژبی خارق‌العاده استعدادلاره ، په‌ټولو دغو برخو کی دینی ژبه‌رسمی ، علمی اوادبی ومنله‌شوله او افغانی شاعران ، لیکوال او پوهان په نوموړی ژبه کی پیدا شول ،دافغانستان دلرغونو ژبو اولهجو په‌لړ کی یوه‌هم دری‌وه چه په‌ځینی ؤلس کی معموله او اد بیات یی عبارت له‌پوډول ملی سندرو څخه وو امادری ژبی دزیاتره علمی کیدلو استعداد نه لاره نو ځکه دعربی لغاتو د منلو د پاره اړه او په دې وسیله شتمنه شوه تر څو چه په‌دریمه هجری پیړۍ کی د فارس نوی ادب جوړ اوهم هغی پیړۍ کی حنظله بادغیسی د افغانستان له متقدمینو فارسی‌زبانه شاعرانو څخه نړۍ ته‌راغی اوهم‌وروسته له‌ده‌څخه یوبل‌شاعر ، محمد وصیف سیستانی ، یعقوب بن لیث صفاری مشهور افغانی پاچا په۲۵۳هجری‌کال کی‌په فارسی‌شعر سره وستایه .

داسلامی‌دورې افغانی دولتونه : طاهریه امراء : څنګه چه په‌تیرو مخونو کی ولیدل‌شو ،طاهربن‌حسین بن مصعب بن‌فرخ دهرات دپوشنګ له‌خلکو څخه‌دطاهریه د مستقل حکومت اساس په‌افغانستان کی کېښود ،طاهر په ۱۵۸ هجری کی متولد اوپه ۲۰۵ هجری کال کی‌یی دخراسان حکومت وموند او په ۲۰۶ ه کال کی وروسته د خپلوا کی‌ر د اعلان څخه فوت شو ، دې سړی په لښ و خت کی دتخا ر ستان ، بلخ ، میمنی ، مر وې

هرات ، نیشاپور ، کرمان او سیستان ولایاتونه تامین اوپه دې صورت یې خپل زوی ته دهیواد شمالی اوغربی برخی د خپلواکی مملکت په توګه میراث پرې ښودلی .

دطاهر زوی طلحه دچهارشنبی ترورځی ٢٦ د ربیع الاول ٢١٣ه کال پوری دخپل پلار پرځای ناستۀ خپلواکی سیاست اواحترامکارانه اړیکی (روابط) یی داسلام د خلافت دمقام سره ساتلی وو. دطلحه پرځای دده ورور ،علی، کښیناست چه دخلکو په شورش لتاړ اوپه جګړه کې مړشو .نوځکه عبدالله بن طاهر دذوالیمینین لوی زوی چه ترهغه وخته پورې د خراسان سپه سالار پەحیث په بغداد کی مقیم او نظامی روښانه کارونه یې دشام ، فارس او مصر په ممالکو کی دعباسی خلافت په طرفداری پای ته ورسول، او لکه پلار غوندی په سیاست او نظام کښی یو نو میالی میړه شمیرل کیدو ، پخپله افغانستان ته وارد اود حکومت دکارونو واګی یې په لاس کی ونیول . عبدالله ١٨٢ ه کال کی متولد اوپه ١١ دربیع الاخر ٢٣٠ه کال کی په نیشاپور کی وفات شو . دې سترمیړه دشمالی او غربی افغانستان په تامین اودهغه ځای دسیاسی بنسټ په ټینګولو کی زیات کوشش وکړ اوتل د خپلو نظامی کومکونو په واسطه دفارس او طبرستان د ولایتونو داغتشاش او اخوډب په مقابل کی د عباسی خلفاوو دامتنان او احترام سبب شوی ؤ د افغانستان لاس یی دعباسی امپراتوری په کارونو کی اوزد وساته . اما خراسا نیانو تردې درجی دده نژدې والی عربوته نه غوښته اوله ټولونه زیات سیستانیانوددده پرضد باندی فعالیت کاوۀ . په هر حال ورو سته ددې فاضل شاعر اوموسیقی دان امیر له مرګ څخه دده زوی طاهر ، په تخت کښینوست اوتر ٢٤٨ هجری یی دوام وکړ . طاهر پەسیاست کی دخپل پلار روش تعقیب کړ او سیستانیانو هم خپل پخوانی مخالفت ته دوام ورکړ .

مخصوصاً یعقوب صفاری دهغه پەوخت کی ډیر قوت ومونده اوپه پای کی همدی ؤ چه په افغانستان کی یې یولوی حکومت جوړ کړ ، وروسته د طاهر بن عبدالله د مرګ څخه یی زوی محمد بن طاهر چه ده د خپل کهول د بزرګانو نو خاصیت نه لاره ، حکومت ته ورسید نو ځکه دده غفلت او عدم کفایت سبب شو چه لومړی دطبرستان او ګرګان ولایت چه له ډیری مودې نه په افغانستان پورې تړل شوی ؤ د لاسه ولاړ اوبیا یعقوب صفاری او کړای شو چه سیستان اوهرات اشغال کړی او په پای کی طاهر یه امارت ته د همیش دپاره خاتمه ورکړی . (٢دشوال ٢٥٩ هجری کال ) .

لنډه داچه دافغانستان طاهریه حکومت په داخلی او خارجی سیاست کی د اعتدال په لاره روان ؤ ، طاهر ذوالیمینین چه د ابو مسلم خراسانی له شدید امپریالیزمی سیاست او ناکامیدو څخه دعباسی اسلامی امپراتوری د قدرت او سیاست پەمقابل کی خبرؤ ، نه یی غوښتل چه بیا دا رویه امتحان کړی . همدا رنګه یی د برمکی کورنی تفریطی سیاست چه یی خپل ټول شته دعربو دامپراتوری د ترقی او اعتلا په لاره کی ور کړل نه خوښاؤ .ځګه ده وغوښتل ترځو چه کولای شی دافغانستان سیاسی خپلواکی تامین کړی او هم خپلې اړیکی (روابط) دعربی خلافت سره قطعه نه کړی ، دذوالیمینین اخلافو دغه پالیسی تعقیب کړه او تر پایه پوری یی د بغداد له خلافت سره د اړیکو دتینګولو څخه لاس ونه یوست، دفارس، مصر او شام په جګړو نو کې یې عرب تقویه کړل په داخل کی یی هم دعربو ژبې له ساتلو (حمایت) څخه ځان ونه ژغوره حتی عبداله بن طاهر دې کورنی سترمیړه په ٢١٣ هجری کال کې دزر تشتیانو دکتابونو یوه برخه وسوځوله .له دې کبله دوی فرصت ونه موند چه دافغانستان په زیاتره برخو کې د اسلام دین ترویج اویا اداری ووالی په ټول هیواد کې ټینګ کړی ددوی هڅه دهیواد دابادولوا وعمراناتو دپاره یوازی دافغانستان په شمالی اوغربی برخو کې وه حتی د افغانستان له جنوب اوجنوب شرق څخه یې هم لاس واخست حال داچه اسلامی افغانستان وروسته له دوه نیمو پیړیو مبارزې څخه ،چه دعربو دامپراتوری سره یې وکړه ددی سیاست نورجدی طرفدار نه ؤ قومی فعالیت اوملی عصبیت یې په سترګو کی ؤهمد غه د خلکو احساسات وو چه زمینه ئی دافغانستان دراتلونکو امپراتوریو دعروج دپاره مساعده کړه . یعقوب صفاری هم له همدې عاطفی اواحساس څخه استفاده وکړه .

د افغانستان صفاری دولت : په هماغی لو مړی هجری پیړی کښی اوداسلامی راشده خلفاوو په عصر کې د حضرت پیغمبر آخر الزمان علیه الصلواة والسلام دپرځای کښیناستلو په سر په عربو کې اوزده اختلافات پیدا شول دغه اختلافات په تیره بیاد بنی امیه دامپراتوری په وخت کې زیات شول اودنری په ټولو مسلمانانو کې خپاره شول برسیره پردی د عربو عصبیت په دې دوره کې شدت وموند اوعکس العمل یی په غیرعربی ملتونو کې څرګند شو دبنی عباسیه دامپراتوری په دوره کې د غووارو مخالفتونو دعمل جامه واغوسته اوپه یې ز یاتی فرقی په اسلامی ملتونو کې پیدا شوې مثلا دبنی امیه طرفداران چه سپین بیرغ ئی لاره ،دپیغمبر د کهول طرفداران اوهغه سلطنت خواهان چه شین یازر غون بیرق ئی استعمالا ؤ .دبنی عباس طرفدا ران او داموی اوعلوی ضد چه په بیرق اوجامعه کی ئی تورر نګ لاره او دار نګ یی له افغانستان اوابومسلم څخه استعاره کړی و، دخوارجو فرقه چه ددې ټولو پرضد وه یوډول جمهوری خواهان او په سیاست او دین کې افراطی ډله شمیرله کیده ، اوسور بیرق یې استعمالاؤ، خوارجو د اسلام د خلیفه تاکل په آزاده توګه له عجمی

(غیرعربی‌عناصر) اوعربی ملتونو څخه قبول اودخلیفه‌دنامشروع ارتکاب پـه صورت کـې ئی دده دعزل او وژلو پیشنهاد کاوه او همدار نګه په‌لس‌ها وو فرقی نوري .دخوارجوفرقی دسیاست له مخی افغانستان خپل مرجع وباله، ځکه چه‌افغانستان دسیاست له مخی‌داموی او عباسی‌امپراتوریو پرضدؤ اوپیره موده‌پخوایی (دامیر المؤمنین علی ابن ابی طالب کرم الله وجهه د خلافت په وخت کې)څوزره عربی‌خوارج خپل د سیستان او فراه په ولایت کی منلی وو ، همدا و و چه‌دافغانستان اسلامی ولایات دهمیش د پاره دعربو د اموی او عباسی امپراتور یو پرضد د سیاسی هیجا ناتو ، او فعالیتونو مر کز شمیرل کیدل ، په داسی وخت کې‌چه دخراسان طاهریه امارت ډګرته راووت او داعتدال او میانه روی سیا ست یی د نـیمی پیړی د پاره د عربو پـه مقابل کـې وساته ، البته چه‌دملت اکـثریت نه‌خوښاؤ،نو ځکه دضـدیت‌لمنه لـه د ې پالیسی سره په‌ورو ورو افغانی ولایاتو په‌تیره بیاسیستان‌ته خپره شوه ، په پای کې یی یوشدید اوجدی افغانی‌دولت جوړ کړ ، ددې دولت مؤسس هم‌هغه یعقوب بن‌لیث صفاری مروی دسیستان له‌خلګو څخه‌دی چه‌په ۲۵۳ هجری‌کال کې‌یې دخپلو ملګرو په کومك‌خپل سلطنت اعلام کړ،دافغانستان صفاری دولت په‌خارجی اوداخلی سیاست کې برخلاف‌دطاهریه حکو مت نو ی ر وش اختیار کړ، په‌دی معنی چه دافغانستان‌په داخل کې‌ئی دملوك‌الطوائفی‌دمینځه وړلواو د مملکت د دینی یووالی دپاره داسلام ددین دخپرو لوپه واسطه نقشه‌جوړه کړه اوپه خارجی‌سیاست کې ئی د عر بو دامپراتوری په مقابل کې ضدیت او د عر بوپه‌متصرفه خا ورو (لکه دفارس، مـاوراءالنهر اوحتی‌عراق‌عرب‌هیوادونه) کښی‌یې‌دیوې اسلامی‌شهنشاهی‌جوړول په نظر کې ونیول البته دغه تـول پراخه پرو ګرام د صفاری دولت په لنډه موده کې چه څه‌نه‌څه نیمه پیړی وه عملی شو اما یوې‌برخی‌ئی‌دهیوادپه خارج اوداخل کې‌عملی‌جامه‌واغوستله، مثلا پـه داخـل کـښی دسیـتان ، زابلستـان او کـا بـلستـا ن تخارستان،بلخ، نیشاپور، کرمان ولایتونه‌اوپه‌خارج کښی دفارس طبرستان،آمل اوخوزستان‌ولایتونه ټول‌دصفاری دولت‌جزء اوپه هغه پوری وتړل شول . اودبلی خوا دمملـکت پای تخت زرنج اودسیستان ولایت په‌آبـادی اوعمراناتو کښی وړاندې ولاړل ، اوپښتنی عسکر قوی‌اومنظم و ګرزېدل . دافغانستان فـار سی ژبی چه دمملـکت دقدیمی دری ژبی او دعربی مستعارو لغـتو څخه مرکبه ده هم ترقی وکړه، چه دعربو د پراخـی ژبـی ومقابلی ته حاضره شوه، تردې حده چه لو مړی قصیده پدې نوې ژبی سره دصفاری پادشاه په مدح کښی دمحمد بن وصیف سپاکزی پښتانه شاعر له خوا جوړه شوه . صفاری حکو مت دګردېز،کابل،بلخ اوبدخشان‌محلی‌پاچایان مغلوب او مطیع کړل.

اوهم ئی‌داسلام دین‌په کابل کښی تریوې اندازی پوری رواج کړ په‌دغه وخت کښی یوبل‌ملی او قوی حکومت دافغانستان په شمال کښی‌دبلخی‌سا مانی کورنی په واسطه تاسیس‌شواودبغداد خلافت وکړای شوچه ددیلو ماسی وسائلو په‌ذریعه ددښمنی‌او نفاق‌اورددې‌دواړو پښتنی‌حکومتو په‌مینځ کښی‌ولګوی لکه‌چه‌دیوې خوائې دسامانی حکومت‌دصفاری دولت‌پرضد د امیرالمؤمنین او داسلام‌دخلیفه په نامه تحریك کړ اودبلی خوائی د ماوراءالنهر دحکومت منشور دصفاری پاچاته وبابنه. دصفاری حکو مت هم چه په ټول قدیم افغانستان کښی‌ئی اداری توحید په نظر کښی درلود، دسامانی حکومت پرضد ئی سوقیات وکـړل ، چه‌پـه آخره کښی دجنګ په‌ډګر کښی مغلوب او دمنځه ولاړ .

په داسی حال کښی‌چه دطاهریه‌حکومت دملك دیوی برخی سیاسی استقلال اوآبادی اودزراعت ترقی او دمدارا پالیسی او اوسیاسی ارتباط دبغداد دخلافت دمرکـز سره دیوه معتدی بها دولت په څېر مراعات کـاوه، دافغانستان صفاری دولت دټول افغانستان اداری وحدت اواستقلال او دبغـداد د خـلافت سره ضدیت اودعربی ژبی په مقابل کښی دفارسی ژبـی تر ویـج ، بـالا خره دعسکریت تشکیل اوتقو یه اویوه اوپه امپراتوری ئی په نظر کښی ونیوله . یعقوب بن لیث صفاری ددغه دولت موسس چه‌دعزم‌خاوند اولوړهمته‌یوسړی ؤ په‌اوله کښی دصالح نامی په خدمت کښی چه دسیستان دشور شیانو قائدؤ دعباسی امپراتوری په مقابل کښی ودرېده او پس له د ووکلـو څخه دیغما کړی اوچپاول په سبب دهغه څخه متنفر شو او د درهم نومی سره چه‌دصالح لخای‌ئی نیولی ؤ دجرنیلی په حیث ملګری شو، څوکاله وروسته دا دواړه هم په خپلو منځـو کښی سره برخلاف شول . اوخلقو چه د یعقوب میړانه او دشهرت حیثیت دهغه له‌اولی زمانی څخه ترهغه وخته پوری آورېدلې اولیدلی وه هغه ته‌ئی بیعت ورکړ ، همداغه وه چه یعقوب دلومړی پاچا په حیث، دولایت داخلی مخالفین لکه‌صالح،نصر، عمار، او نور دمنځه یوړل، اودافغانستان غربی او شمالی ولایتو نه ئی بیـا بهرته ورسره‌الحاق اوطبرستان ته‌ئی سوقیات شروع او (آمل) ئی فتح کړ . کله چه دبغداد خلیفه معتصم بالله خپل مخـا لفت ښکاره کړ اوخلق ئی د یعقوب په ضد تحریك کړل نو یعقوب هم دبغداد دنیولو په عزم وخوځید اودفارس اوخوزستان دفتح کولو څخه وروسته عراق عرب ته نیژدې‌شو ، اوپه هغه چنګ کښی چه ددواړو خوا ؤ په‌منځ کښی پیښ‌شو یعقوب خوزستان ته بهرته پرشاراغی، یعقوب لابلې حملی ته شروع نه وه کړې چه‌په جند شاپور کښی ئی په۲٦۵ هجری کال کښی ددنیا څخه ستر کی پټی اووفات شو .

عمرو دیعقوب ورور، چه‌دهغه په‌لخای کېناست،دبغداددخلیفه

سره ئی مفاهمه وکړه اودفارس او اصفهان د حکومت منشور اودبغداد شحنه گی ئی حاصله کړه . اوپه کال کښی دشل زره روپیو ورکول ئی دخلیفه خزانی ته ومنل پخپله دی دخپل مملك اودفارس دمملکت دداخلی امنیت په چارو مشغول شو . عباسی خلیفه الموفق دهغه پخوانی سیاست په اساس چه دی په افغانستان کښی دقوی حکومت دتشکیل سره مخالف ؤ ، بیائی دتحریکاتو اواقداماتو بناکښوده، خلیفه دطاهری کورنی یو فراری سړی دیوی خواخخه اونصر ابن احمد سامانی ئی دبلی خوا څخه دصفاری پاچا پرضد ودرول . نوله دغه سببه د عمرو لوی محمد دمکمل عسکرسره دبغداد پرخواروان شو ، اوخلیفه دهغه مدافعی ته چمتوشو خو دصفاری پاچا لوی بی لهدې څخه چه دخلیفة المسلمین سره جګړه وکړی بهرته را وګرزید اودسیستان په حدودو کښی ددنیاخخه و لاړ مړ شو (٢٧٤هـ) عمرو په (٢٧٦) هـ کال کښی بیا دفارس خوا ته عسکر روان کړل اودخلیفه عسکرئی مغلوب کړل اودشیراز څخه خوزستان ته اودهغه ځایه اهوازته و رسیده او دخلیفه نوم ئی دخطبو څخه لرې کړ . المعتضد نوی خلیفه هم دسولی دلاری څخه وړاندی شو سوله یی سره وکړه ، نوعمرو بیرته افغانستان ته ولاړ . ددې څخه وروسته عمرو، وغوښتل چه افغانی سامانی حکومت دماوراءالنهر څخه لری کړی، لکه چه هغه دیوې امپراتوری دتشکیل آرزودرلوده، اودبغداد دسیسی هم ړومبی د هغو دواړو په منځ کښی مناسبات سره خراب کړی وو ، هماغه وه چه ددواړو وخوا و لښکری بلخ ته نیژدې په (٢٨٧) هـ کال کښی سره ونښتی، اودصفاری لښکرو ماتی وکړه او خپله پاچا بندی شو، اودامیر اسمعیل سامانی له خوا بغدادته ولیږل شو چه په آخره کښی دغه لایق اومشهور پاچا په (٢٨٩) هـ کال کښی د بغداد په زندان کښی مړشو . د عمرو بن لیث څخه ورو سته طاهر بن محمد بن عمرو دافغانستان پاچا شو خو لدې کبله چه دغه لوی دولت دانحطاط خواته روان ؤ نوځکه دنوی پاچا کو ششونه اوسوقیات دفارس په ملك کښی چه د عباسی امپراتوری په مقابل کښی ئی کول کوم ځای ته ونه رسیدل اوسامانی پاچاهان غالب اوپه (٢٩٩) هـ کال کښی ئی دصفاری حکومت انقراض اعلان کړ .

صفاری پاچاهان :

یعقوب بن لیث - ٢٥٣ - ٢٦٥ هجری کال
عمرو بن لیث - ٢٦٥ - ٢٨٧ هجری کال
طاهر بن محمد بن عمرو - ٢٨٧ - ٢٩١ هجری کال

دافغانستان سامانی پاچاهان : سامانی کورنی په اصل کښی دبلخ ده ،او سامان نومی ته منسوب ده چه یو اوښ وال سړی ؤ ، اسد د سامان لوی کله چه عباسی خلیفه مامون په مرو کښې ؤ دخپلو ځلورو ځامنو سره د هغه په مامورینو کښی شامل شول ، اوکله چه دطاهریانو حکومت په افغانستان کښی تاسیس شو داسد دځامنو په مرتبو کښی ئی ترقی را وسته - ابراهیم دالیاس لوی ددې کورنی بوتن ؤ چه د طاهریانو په حکومت کښی د ټولو قواؤ سپه سالار ؤ ، وروسته له هغه ددې کورنی اعتبار داسی زیات شو چه عباسی خلیفه المعتمد په (٢٦١) هـ کال کښې دماوراءالنهر د حکومت فرمان دامیر نصر په نامه چه د سامانی اسد لمسی ؤ صادر کړ ، امیر اسمعیل دهغه وروردی چه دنصر دوکیل په حیثیت په بخارا کښی خپل مرکز وټاکه . وروسته له هغه تر (٣٨٩) هـ کال پوری (١٢٨) کلونه کښی دې، لوی اومدنیت روزونکی دولت دوام درلود ، اوپرتول شمالی او غربی افغانستان او ماوراءالنهر او د فارس د ملك پریوی برخی باندی ئی چه (جرجان، تبرستان،ری) دی حکمرانی درلوده . دافغانستان سامانی پاچا هانو اسلامی تهذیب اوتمدن فارسی ژبه او ادبیات ئی دخپل د حکومت په ټولو برخو کښی وړاندې بوتلل، اولوی خدمت ئی مملکت ته وکړ، خوسره دې هم سامانیان د افغانستان د ملك د ټولو برخو پر دینی او اداری ژوالی باندی موفق نشول، دمملکت په مرکز اوشرقی ولایتو کښی پخوانی ادیان رواج وو ، او محلی حکومتونه پکښی وو. اوپه جنوب غربی او شمالی ولایتونو کښی محلی نیم مستقل حکومتونه وو ، چه د سامانی امپراتوری دتحت الحمایه توب وصف یی درلود .

پهرحال امیر نصر په سمرقند کښی مرکزدرلود ، اوپه هغه جګړه کښی چه په (٢٧٥)هـ کال کښی ئی دخپل ورور سره وکړه دامیر اسمعیل په لاس بندی شو، خوبیا دبنده خوښی اوخپل امارت ته ئی دوام ورکړ . اسمعیل دخپل ورور د مرګه وروسته په (٢٧٩) هـ کال کښی دماوراء النهر پاچاشو، او په (٢٨٠)هـ کال کښی دسیحون څخه تېرشو او خپل ترکی دښمن ئی مغلوب کړ،او په (٢٨٧) هـ کال کښی ئی عمرولیث صفاری پاچاته ماتی ورکړه اوافغانی او ماوراءالنهر دولتونه ئی سره یو کړل .او وروسته له هغه ئی د فارس ملك ته عسکر روان کړل اوتبرستان اوری ولایتونه یی و نیول ، او په (٢٩٥) هـ کال کښی مړ شو . ابوالفضل بلعمی ددغه پاچا یوفاضل وزیر ؤ .امیراحمدداسمعیل لوی دخپل پلار په ځای دکښنستلو لیاقت نه درلود ،خوامیر نصر اول د هغه لوی چه دخپل پلار دوژل کېدلو څخه ورو سته په (٣٠١)هـ کال کښی پاچاشو دمافات تلافی ئی وکړه ، داسړی دافغانستان دعلم دوستو اوادب روزونکو پاچا هانو څخه شمېرل کېږی . دامیر نوح اول بن نصر اول اودعبدالملك اول بن نوح اول او دامیر منصور اول بن نوح اول دحکومتو په دورو کښی

کومی مهمنی پښتی نشته ، یوازی یوه پښته چه په آخرو وختو کښی وشوه داده چه الپتگین د سامانی حکومت سپه سالار په افغانستان کښی دغزنوی دولت اساس کښبود. خوامیرنوح‌دوهم د منصور اول ځوی دسا مانی پاچاهانو یو مشهور پاچا گڼل کیږی،چه دابوالحسن عتبی په‌شان یوپوه وزیرئی ځان‌ته غوره کړ، خوافسوس چه‌دغه وزیر ددولت دنورو لوپو اشخاصو لکه ابو الحسن سیمجور سپه سالار او ابو الحسن فائق د شخصی مخالتفونو په‌اثرووژل‌شو .اوددولت‌کارونه مخصوصاً دافغانستان دمملکت کارونه خراب شول . وروسته له‌هغه د ابوعلی‌سیمجور دابو الحسن سیمجور سپه‌سالار دزوی او دابوالحسن فائق‌دبلخ دحاکم د شخصی دښمنیو دا هرج ومرج لازیات کړ ، ترڅو چه خبره دې‌حدته ورسیده چه دوی دواړو د کاشغر پاچا بغرا خان ترکی ته‌مراجعه وکړه ، اولومړنی هغه د ماوراءالنهر تسخیرته تشویق کړ، اولارښودنه ئی ورته‌وکړه او دوهم دمدافعی په په‌ځای ورته تسلیم شو ، اوپه‌دې ډول د بخارا تخت دبغراخان په‌لاس ورغی .

اوامیرنوح وروسته له‌تینبتی څخه وکولای شوچه دناجوړتیا اوبیرته‌راتګ او دبغراخان د مړینی څخه وروسته بل ځل بیا دخپلونیکونو پر تخت کښینی ، خوبوعلی اوفائق بیاهم دخیانت څخه لاس نه وایستلی او دواړوپه اتفاق سره وغوښتل چه هغه پخوانی پاچا بیا دمنځه لری کړی ، نو امیرنوح مجبور شو چه دافغانستان غز نوی دولت ته مراجعه وکړی اوله هغه څخه‌یی مرسته وغوښتله ،سبکتگین او محمود دهغه ځوی هم‌په (٣٨٤) هجری‌کال کښی مرسته ورکړه او د فائق او سیمجور مدافعه‌ئی وکړه اوسامانی‌مملکت‌ئی په‌امن کړاوله‌خطره ئی‌وساته .

دوهم امیر منصور د دوهم نوح ځوی دخپل پلار خط مشی تعقیب کړه ، چه‌ده‌هم فائق‌ددولت په‌مهموچارو کښی قبول کړ نورو امراؤهم‌په‌خیانت‌لاس‌پوری کړ، تردې اندازی چه‌ایلك‌خان دبغراخان ځوی دکاشغر ترکی پاچا دبخا را د پایتخت نیولو ته دعوت کړ ، چه‌په‌هغه یرغل کښی چه ایلك‌خان راووړدفائق څخه ئی ماتې وکړه ، او فائق دهغه بر یالیتوب په ترڅ کښی د(بکتو زن) سره‌چه د سامانی دولت‌یولوی مامورؤمتحدشو او امیرمنصور ئی بندی اوړوند کړ ، اوعبدالملك ثانی‌ئی په نامه پاچاکړ . هماغه ؤ چه د افغانستان غز نوی دولت بیا مدا خله وکړه،او دواړه‌ئی مغلوب کړل . سره دهغه ترکی ایلك خان ماوراء النهر ته په بیړه سوقیات وکړل او بخارا ئی ونیوله او سامانی دولت ئی‌منقرض اوله منځه یووړ .

سامانی پا چاهان :

| | | | |
|---|---|---|---|
| امیر اسمیل | ٢٧٩ | ٢٩٥ | هجر ی کال |
| امیر احمد | ٢٩٥ | ٣٠١ | » |
| امیر نصر | ٣٠١ | ٣٣١ | هجری کال |
| امیر نوح | ٣٣١ | ٣٤٣ | » |
| عبدالملك | ٣٤٣ | ٣٥٠ | » |
| امیر منصور | ٣٥٠ | ٣٦٦ | » |
| دوهم‌نوح | ٣٦٦ | ٣٨٧ | » |
| دوهم‌منصور | ٣٨٨ | ٣٨٩ | » |
| دوهم‌عبدالملك | ٣٨٩ | ٣٨٩ | » |

دافغانستان غزنوی دوره: الپتگین دسامانی دولت د مامورینو څخه‌ؤ چه دسپه‌سالاری‌رتبی ته‌ورسید اود شمالی افغانستان دحکومت‌اداره په‌لاس‌ورکړ شوه ، خوکله چه دسامانی پاچا دانتخاب په‌نظریاتوکښی دده اوامیرمنصور اول سامانی په‌منځ کښی اختلاف‌پیښ شو، نوده دشمالی‌افغانستان حکومت پرښود اودغزنی ښارته ورغی، الپتگین ژرترژره وشوکولای چه‌دیوه محلی‌قوی‌حکومت اساس په‌غزنی کښی کښېښږدی ، دده خلف اوزوم‌سبکتگین‌دی دائرې ته‌دکابل خواته وسعت‌ورکړ اودکابل محلی‌حکومت‌ئی دمنځه‌یووړ ،دسبکتگین پیشرفت په دغه‌ځای متوقف‌نشو بلکه‌مخ‌په‌شرق‌وړاندی ولاړترڅوچه دسیندسواحلو دافغانستان پخوانی حدودوته ورسیده او په‌هغو جګړو کښی‌چه دسیندپه‌حوزه کښی‌یی دپنجاب دمدافعینوسره وکړی بریالی شو سبکتگین دداسی حکومت په تشکیل کښی دسامانی سلطنتی کورنی‌ضعف‌څخه استفاده‌وکړه اود بلی خوائی‌دهغه‌عسکری حمایت پواسطه‌چه دهغې کورنی‌ دداخلی دښمنا نو په‌مقابل کښی‌ئی کړی ؤ دسامانی پاچاهانو رضائیت‌ئی‌حاصل‌کړمشهوره سلطان‌محمود دسبکتگین‌ځوی‌دی‌چه‌دشرقی دنیا په‌ادبی‌اونظامی تاریخ کښی لوړمقام‌لری ،محمودهم ددین اوهم داداري له‌نقطه نظره‌ټول افغانستان سره یوکړ اودهیواد سیاست ، علم‌اوادب ته‌یی‌ترقي ورکړه، اوده د افغانستان محلی‌پاچاهان چه‌له ډېرو پیړیوراهیسی‌هم دقبل‌الاسلام په‌دوره کښی او هم داسلام په‌دوره کښی په‌هر کنج او کنار کښی چه‌اوسېدل اوپه افغانستان کښی دیولوی‌دولت‌دوجو دپه‌زمانو کښی‌به‌ئی‌دځه باج‌اوخراج‌پەورکولو سره قناعت‌کاوه اوددا سی دولت‌دنه موجود والی پەوختو کښی به‌ئی‌مستقل ژوندون‌کاوه لکه‌دگوزګانان (میمنې‌اوشبرغان) دحکمران کورنی‌ اود سیستان آل صفار (امیر خلف) اودبلوچستان آل سهراب او دغور آل شنسب اودغرجستان د(میمنی اومرغاب) شاران‌او دګردېزامراءاودپښور بومی حکام اوپخوانی خوارزمشاهان اودسیند اوملتان‌لودی امراء داټولیی دمنځه‌یووړل په‌دې‌ترتیب سره محمود دافغانستان‌داسلامی‌دورې رومبنی پاچادی‌چه دافغانستان‌دیفتلی‌دولت څخه وروسته(میلادی ٦قرن) دخراسان دملك پرټولو برخوئی له جیحون اوخوارزم څخه ترعمان‌پوری اودسند څخه تر ګیلګیت پوری پاچاهی کړې‌ده ،محموددهندوکش په جنوبی برخو کښی اودافغانستان

په‌شرقی ولایتو کښی(پرته‌دیوې برخی‌څخه دمشرق په‌شمال کښی) داسلام‌دین‌ترویج اودافغانستان معنوی اومذهبی وحدت‌ئی تکمیل کړ وروسته له‌هغه محمود دخپلو پی‌نظیرو سوقیاتو په‌واسطی دافغانستان دفتوحاتو لمن په‌شمال کښی دجیحون درود څخه‌هغی خواته اوپه‌غرب کښی دفارس‌دملك ترمنځه پوری ، او په شرق کښی دستلج درودخانی پوری اوزده کړه محمود دیوې خواپه داخل کښی دافغانستان ملك ډېرودان اوشتمن کړ او دبلی‌خوائی په‌هغو پخوانو اساسونو چه دافغانی سامانی پاچاهانو اینی‌وو دعلم‌اوادب بیرغونه اوچت کړل ، اوددې لارې ئې د افغانستان اومنځنی شرق‌دملکونو علم‌اوادب ته لوی خدمت وکړ محمود داسلام مقدس‌دین په‌ډېر بشپړ کو شش سره دسیند درودخانی وهغی‌خواته ورساوه اوپدې‌صورت‌سره‌ئی‌عالم اسلام‌ته لوی‌خدمت وکړ ،محمودؤ چه‌دفارسی ژبه اوادب‌ئی دتشویق دلاری داسی وروزل چه په‌تاریخ کښی بی‌ساری نشته محمود په شرقی دنیا کښی‌دخپل عصردلویو خلقومرجعؤ فردوسی طوسی ابوریحان بیرونی ،احمدحسن میمندی، ددې رنګه لویو خلقوکاملی نمونی ګڼلی کېږی ، حاصل‌دادی چه محمود داسلام په دوره کښې دسیاست،نظام، علم،ادب، تجارت ، صناعت اونورو مدنی شئونو له‌حیثه یولوی افغانستان تشکیل کړ .

دمحمود اخلاف اولځو لخاد دهغه دوجی ته ونرسیدل‌خوسره دهغه‌هم‌دوی دخپل‌سلف په‌پیروی‌سره په هند کښی‌فتوحات‌وکړل اودعلم اوادب دروزنی څخه‌ئی مخ‌ونګرلخاوه ، دهغوډېرمشهور اوسلطان‌مسعوددسلطان‌محمود لخوی اوسلطان بهرامشاه‌غزنوی دی لنډه‌داچه دافغانستان‌غزنوی سلطنت د٤ پیړۍ‌څخه‌تر٦هجری پیړۍ پوری دمجاهدو اوداسلام د مدنیت روزونکو دولتونو څخه یولوی‌دولت ګڼل کېږی، د ٦ پیړۍ اواخرو کښی غزنوی دولت په‌اجتماعی‌ناروغیو اخته او کمزوری‌شو اودآل سلجوقی قواؤ دهیواد په‌شمال کښی قوت ونیو دهغولخایونه‌ئې ونیول هغه وڅه دافغانستان غوری دولت لخان و خولخاوه اودهیواد دترقی لارئی سره‌ونیوله .

غزنوی پاچاهان :

| | | | |
|---|---|---|---|
| امیرالپتګین | دجلوس کال | ٣٥٦ | هجری |
| امیر سبکتګین | « « | ٣٦٧ | « |
| سلطان محمود | « « | ٣٨٧ | « |
| سلطان مسعود | « « | ٤٢١ | « |
| امیرمحمد | « « | ٤٣١ | « |
| سلطان مودود | « « | ٤٣٤ | « |
| دوهم مسعود | « « | ٤٤١ | « |
| علی | « « | ٤٤٢ | « |
| عبدالرشید | « « | ٤٤٣ | « |
| فرخزاد | « « | ٤٤٤ | هجری |
| ابراهیم | « « | ٤٥٠ | « |
| دریم مسعود | « « | ٤٩٢ | « |
| شیرزاد | « « | ٥٠٨ | « |
| ارسلان شاه | « « | ٥٠٩ | « |
| بهرام شاه | « « | ٥١٢ | « |
| خسروشاه | « « | ٥٤٤ | « |
| خسرو ملك | « « | ٥٥١ | « |

په افغانستان کښی د سلجوقیانو نفوذ : سلجوقیان دغز دترکانو یو خاص ؤ اودسیحون په‌شمال کښی یی ژوندکاوه ، دقاق‌نومی یو سړی‌چه‌دهغوله قوم‌څخه‌ؤ دسامانیانو د سلطنت په دوره کښی د خپلی قبیلی سره‌ماوراءالنهر ته‌ورغی او داسلام دین ئې قبول کړ،سلجوق‌ددقاق‌لخوی لمور لخامن درلودل : اسرائیل،میکائیل موسی ،یونس،سلطان محمودغزنوی ، اسرائیل په محبس کښی بندی کړ،اوپه‌دې کښې سهوشو چه دهغو یوشهیر ته‌ئی‌دافغانستان په‌شمال کښی لخای‌ور کړ ، سلطان مسعود غزنوی په‌هغه جګړه کښی چه‌دمیکائیل دلخامنوطغرل‌اوجفرسره‌ئی وکړه، مغلوب‌شواو دافغانستان شمالی ولایتونه‌ئی‌لکه بلخ ، مرو، اونیشاپور دلاسه ورکړل ،په‌دې‌ترتیب‌سره(طغرل) په٤٢٩هجری کال کښی نیشاپور خپل سلطنت اعلان کړ ، او وروسته له هغه‌ئی دفارس په ملك کښی اصفهان فتح کړ اوهغه ئی خپل پای‌تخت وټاکو ، طغرل یولوی سړیؤ ، بغداد ، موصل ، دیاربکر اونصیبین ئی‌هم فتح کړل . اود ګرجستان او قفقاز دعیسو یانو سره‌ئی جهاد وکړ اودبغداددخلیفه‌اورئی په نکاح‌واخیسته اوپه٤٥٥ هجری کال کښی په‌ری کښی‌مړشو،له‌هغه وخته‌راهیسی‌سلجوقیان‌دفارس‌دملك اود افغانستان د شمالی ولایاتو خاوندان شول ،الپ ارسلان دتعزل لخوی چه‌د خپل پلار پشان دکارسړی‌اوفاتح اودمشرقی‌روم امپرا تورادودرومانوس ته‌ئی‌دیجانوس‌ماتی‌ورکړه(٤٥٥ — ٤٦٥) خپلی حملی دافغانستان پر شمالی برخوتکرارکړی جلال‌الدین‌ملکشاه دالپ ارسلان لخوی « ٤٦٥ — ٤٨٥ » دافغانستان یولوی سړی خواجه نظام الملك‌طوسی‌دخپل دپلار وزیرئی‌په‌خپل‌وزارت‌مقرر اوددې‌وزیر په‌واسطه‌ئی‌خپل‌مملکت ته‌نرقیات‌ورکړل‌ملك‌شاه‌دآل سلجوق پاچاهی په کوچنۍ ایشاکښی تینګه کړه اود خپلی امپرا طوری لمن‌ئی دکاشغر دسر حداتو اودمرکزې آسیا څخه‌تر بحرروم پوری اوزده کړه ، د علم اوادب روزنه ئې وکړه . نظام‌الملك دسیاست نامی کتاب تالیف کړ او په هرات،اصفهان، بصره اوبغداد کښی‌ئی‌مدرسی‌اوودانی تعمیر کړې ، اوعمر خیام چه مشهور شاعر اوحکیم دی تاریخ جلالی تدوین کړ . برکیارق د ملك شاه لخوی خپل ورؤرسنجرته‌په (٤٩٠)هکال کښی دفتح‌شوی‌افغانستان(خراسان) نائب‌الحکومګی

ورکړه ، سنجر په(۴۹۸) هجری کال کښی د مفتوح افغانستان استقلال اعلان کړ ، اوپه (۵۲۴) هجری کال کښی ئی ماوراءالنهر دهغه سره الحاق کړ . سنجر دسلجوقی سلاطینو یولوی پاچاو اوزپور اوفاتح سړی ؤ په مرکزی افغانستان کښی غزنوی دولت تیت و پرک شوی ؤ او غوری دولت نوی سر راپورته کړی ؤ . غزنوی بهرامشاه چه پرویووقتو کښی ئی دسنجر سره دوستانه روابط درلودل د(۵۳۰)ه کال پهحدودو کښی دهغهسره دمخالفت دلاری وراندې راغی دهمدې کبله سنجر غزنی ته عسکرولېږل، بهرامشاه مغلوب شو اودخراج ورکول ئی ومنل ، همدارنګه پههغه جګړه کښی چه دسنجر اوعلاؤالدین حسین د افغانستان دغوری پاچاپهمنځ کښې پېښهشوه ، علاؤالدین مغلوب اودسنجر پهلاس کښی بندی شو خووروسته بیرته خلاص شو ' اودسنجر سره یی سوله وکړه خیلی پاچاهی ته یی دوام ورکړه دهغی ورځی څخه دافغانستان په آخرینی شمالی برخه کښی یعنی په خوارزم کښیهم خوارزم شاه (آتسز) دسنجر سره داختلاف اور ولګاوهخوهغههم پههغهجګړه کښی چهدسنجر سرهئی وکړهمغلوب شو (۵۳۵) خوارزمشاه سپوشو چهدې ماتې دتلافی دپارهئی دیوه اجنبی دولت سره چهد کاشغر قرا خطائیان دی مرسته وغوښته اوسلطانسنجرئی دجیحون پهجګړه کښی ماتې تهاړکړ، مخصوصآ په داسی حال کښیچهددښمن لاسحتی مرو اونیشاپور تههم اوزد شو . سره دهغههمسنجرشپږ کاله وروسته بیاخوارزم تهعسکر ولېږل اوآتسزئی مغلوب کړ ، خوسره دهغه ئی په میړانه هغه عفو کړ اوحکومت ئی ورته پر ښود ، خو د قراخطائیانو دغلبی څخه وروسته دهیواد کارخراب شواود غز ځو زره ترکانو د بلخ په ولایت کښی ځای و نیو غزانو دافغانستان دسلجوقی دولت په مقابل کښی لکهدغزنوی دولت په مقابل کښیددوی دنیکونو پشان ، رفتارو کړ - یعنی دتمرد اوبغاوت دلاری نه وړاندی راغلل او سلطان سنجرئی جنګ تهاړکړ ،خوله بدهمرغه سلطان پهدې جنګ کښی دخپلوسل زرو عسکرو سره مغلوب شو او د خیلی ملکی سره یوځای بندی شو ، او څلور کاله دلیونی دښمن په لاس کښی بندی پاتی شو وروسته د هغه چه ملکه ددښمن په زندان کښی مړه شوه ، سنجرلهقفس څخه و تښتید اود مرو ښارته ورغی اولږهموده وروسته په (۷۳) کلنی عمر په هماغه ځای کښی مړشو ، پدې ترتیب سره دغز ترکانونهیوازی دشمالیافغانستان سلجوقی دولت بلکه دکرمان دولایت کوچنی سلجوقی دولت ئیهم دمملکت په غرب کښی دمنځه لیری کړ . خو دنیکه مرغه په افغانستان کښی دوه نور دولتونه موجود وو ، چه په ډیر ژرئی داخالیګاه ډکه اوملك ته ئی دغز دطوائفو د وحشیانه تخریب اوتاراج څخه نجات ورکړ ، چه دادواړه پهشمال کښید خوارزمشایانودولت اوپهمرکزیافغانستان کښیدغوریدولتووواو ددې څخهوروسته دسلجوقی نورودولتونوپېښې پهفارساونورواملکو کښی دافغانستان د تاریخ سره ربط نلری ، بی لهدې څخه چه دومره ووایو چه دسلجوقی ترکانو ډومبنی هجرتدماوراءالنهر په مملکت کښی اوپرافغانستان باندی دهغو یرغل د زیږ نژاد دحملی او تاراج لاره په آریائی ممالکو کښی پرانیستلهاوپس لههغه دغز طوائفو داکار تکرار کړ چه په آخره کښیچنګیز او مغول ددې تاریخی مملکتو مشعشع اوروښانه تمدناوتهذیب اوهستی بربادهکړه .

دافغانستان غوری دولت :دغورولایتد اسلام څخهپه پخوازمانو کښی محلی حکومت درلود او د(سوری) حکمران کورنۍ بلله کیده ،ددې کورنۍاخلافؤ چه پههجری لومړۍ پیړۍ کښی ئیدعربو داسلامی خلافتسرهدوستانه روابط قائم کړل اوداسلام مقدس دین ئیقبول کړ ، دهغه څخه وروسته دغه محلی اسلامی حکومت ترځلورمی هجری پیړۍ پوری دوام در لود . ددې کورنی مشهورافراد داسلام څخه په پخوا ز مانو کښی، بسطام اوشماخ سوریدی ، چه خراسانی فردوسی دهغو نومیاد کړیدی بسطام دهندوستان باچاؤپهاخیر کښی بیرته خپل هیواد بامیانو تهراغلیدی . اوداسلام پهدوره کښی شنسب یابهرام شاه سوری دی چهد امیرالمومنین څلورم خلفه(رض) سره معاصر اومعاهد دی ، امیر فولادغوری ، امیربنجی غوری ، امیر سوری دمحمد ځوی په لومړۍ اودوهمه او دریمه هجری پیړیو کښې ددې کورنۍ ډېر مشهورپاچاهاندی چهپه تاریخ کښیدهغو نومونه یادشوی دی ، امیر محمد سوری غوری ددې سلسلی یوبلپاچا دی چهپه څلورمه هجری پیړۍ کښی د سلطان محمود غزنوی پهلاس دمنځه لیریشو ، لههغه وروسته ددې کورنۍ پاچاهان دغزنویامپراطوریۍ دتحتالحمایه پهحیث پهغور کښیباچهان وو. لکه شیش یاشیث دمحمدځوی اوعباس دشیث ځوی او ابوعلی دمحمد ځوی او امیرمحمد دعباس ځوی اوملك قطبالدینحسن دامیر محمد ځوی اوملك عزالدین حسین د قطب الدین ځوی ، اوهمدغه آخرنی سړیدی چهدسلطان علاء الدین حسین غوری پهعنوان یادېږی او په جهانسوز سره معروف دی ، دغه شخص دغزنوی سلطنت پرضد وپاڅید و ، اوهغه لوی دولت ئیمنقرض اومحو کړ اودافغانستان غوری دولت ئې اعلان کړ ، اوغوری دولت ډېر ژر د خوارزمشاهی دولت سره چهد مملکت شمالی برخی ئیپهلاس کښیوې تصادم وکړو دډېرو سختو جنګوڅخه وروسته ئی دهیواد شمالی ولایات هموښول اوپهځان پوری ئی الحاق کړل . غوریدولت چه دهیواد طبیعیحدود دجیحونڅخه تر سینده پهشمالاوشرق کښی تکمیلکړل نودسیند پههغیخوا کښیئی پهفتوحاتو لاسپوری کړ او د غزنوی پاچاهانو پاتی

کسان ئی په پنجاب کښې د تخته وغورزول او په دغه وقت کښې ئی دملکونو په فتح کولو او د اسلام د مقدس دین په نشرولو د ګنګ په حوزه کښې او په نور ټول هندوستان کښې شروع وکړه ،او په هند کښې ئې داسلامی سلطنت بنسټ کېښود. هغه مشهور پاچاهان غیاث الدین غوری اومعروف پاچا شهاب الدین غوری وو چه هندستان ئی فتح کړ اودهلی ئی دلاهور په ځای د هند د افغانی حکومت پایتخت وټاکه ، غوری دولت په نظامی ادبی،اواجتماعی پیشرفتو کښې دغزنویانو لاره تعقیب اوتکمیله کړه دهند ملك ئی دشو سوه کلو د پاره د افغانی اسلامی دولتو د حکمرانی د پاره مستعد کړ چه د(۶۰۲) هجری کال څخه دلسمی هجری پیړی تر آخرو کلو پوری، په وسطی هند ، بنګال ، مالوه ، کجرات اوریسه، دکن اوجنوبی هند کښې د پښتنی پاچاهانو څو سلسلو لکه د غور موالی ( قطبیه ، شمسیه ، غیاثیه ) خلجیه ، تغلقشا هیه ، خضر خانیه ، لودهیه ، سوریه ، بنګریه ، کرانیه بهمنیه ، فاروقیه ، او نورو پوره څلور پیړی د هند په خاوره کښې حکومت وچلاوه . او په دې اوږده موده کښې ئی داسلامی افغانستان تهذیب اوتمدن، علم اوادب ، فن اوصنعت ، د هند دلوی پراخ هیواد په ټولو برخو کښې نشر کړل . څو د افغانستان غوری دولت په آخره کښې ضعیف او کمزوری شو، ځکه چه په هندوستان کښې پښتنی سپه سالاران په فتوحاتو مشغول وو اود افغانستان دوطن څخه ئې نور خبر نه آخست ، او په خوارزم کښې خوارزمی مقتدرو پاچاهانو د غوری پرسلاطینو په نظامی فعالیتو لاس پوری کی،دبلی خوا د بغداد خلفاؤ مخصوصا خلیفه (الناصر بالله) د خپلواسلافو په سنت دفتنی اورد غوری اوخوارزمی پاچاهانو په مینځ کښې لګاوه ، لکه چه د خپلو لیکونو په واسطه ئی غوریان دخوارزمیانو پرضد، اودکاشغر د قراخطائیانو دولت ئی دخوارزمی دولت پرضد تحریك او جنګ ته تشویق کول، اوددواړو خواوو په مینځ کښې دجګړو سبب کیدل. ترهغه پوری چه د غوری دولت د منځه ولاړ ، لایی هم د دې سیاسی دسیسو څخه لاس وانه خیست . چنګیز اود مغلو کام ئی د خوارزم د دولت پرضد تحریك کړ . د سلطان شهاب الدین غوری مړینی اود هغه داخلافو بی کفایتی دخوارزمشاهیانو دیرغلونو له پاره میدان تیار کړ، کله چه هندوستان د غوری افسرانو تر قیادت لاندی د افغانستان څخه بیل شو او په داخل کښې یوقسم ملوك الطوائفی منځ ته راغله په غزنی اوزابلستان ، بامیان او تخارستان اوسیند اوملتان کښې د غوری محلی حکومتونو قوت ونیو او غوری افسرانو په آخره کښې په دې ولایتو کښې خپل کوچنی اومستقل دولتونه اعلان کړل نو په دې ترتیب سره د فیروزکوه پایتخت چه د افغانستان د غوری سلطنت دهستو کښې ځای ؤ ضعیف او یوازی شو . په دغه وخت کښې ؤ چه د خوارزمشاهی مقتدر اولوی دولت وخوځید ، اود سلطان محمد خوارزمشاه سوقیات داوومی هجری پیړی په اولو وختو کښې پرافغانستان شروع شول او د غوری دتیت شوی دولت مقاومت د خوارزم د سلطان دسترو قواوو په مقابل کښې نور ممکن نه ؤ ، نورځکه ژر سره توتی تو تی شو اوغوری افغانستان په خوارزمشاهی دولت پوری ملحق شو .

د افغانستان د غوری ځینو سلا طینو نومونه :

| | |
|---|---|
| سلطان علاء الدین حسین جهانسوز | ۵۴۳ — ۵۵۱ هجری |
| ملك سیف الدین محمد د علاء الدین ځوی | ۵۵۱ — ۵۵۸ « |
| سلطان غیاث الدین محمد د سیف الدین ځوی | ۵۵۸ — ۵۹۸ « |
| سلطان شهاب الدین ابوالمظفر سام د سیف الدین ځوی | ۵۹۸ — ۶۰۲ « |
| امیر محمود د سلطان غیاث الدین ځوی | ۶۰۲ — ۶۰۹ « |
| بهاء الدین سام د محمود ځوی | ۶۰۷ — ۰ « |
| آتسز د علاء الدین ځوی | ۶۰۷ — ۶۱۱ « |

د خوارزمشاهانو دولت : د خوارزم شاهانو د کورنی اول مورث د افغانستان د غر ځستان ( میمنی اومرغاب ) د خلکو څخه یوسړی دی ، چه نوم ئی انوشتکین غرځی و ، اودی د سلطان ملك شاه سلجوقی د دربار د مامورینو څخه ؤ ، چه ورو سته د خوارزم د ولایت په حکومت مقرر شو په(۴۹۱)هجری کال کښې سلطان سنجر د افغانستان د خراسان سلجوقی پاچا محمد دانوشتکین ځوی د خوارزم په حکومت مقرر کړ ، اودې سړی د یرش کاله په د هغه ځای کښې حکومت وکړ . د قطب الدین محمد د مرکه وړو سته د هغه ځوی آتسز خوارزمشاه د سلطان سنجر له خوا د خوارزم په حکومت مقرر شو خو اتسز لوی خیال په سر کښې درلود او په(۵۳۵) هجری کال کښې که ئی د استقلال اعلان و کړ. په هغو جګړو و کښې چه دده او سنجر په مینځ کښې پیښې شوې اتسز مغلوب شو ، او په آخره کښې ئی د غزترکان د سلطان سنجر پرضد تحریك کړل ، او په دې ترتیب سره ئې د افغانستان سلجوقی دولت د منځه یووړ ، وروسته له هغه د خوارزم پاچاهانو مستقل حکومت کاوه، او د سلطان محمود غزنوی په شان هغه د بوه لوی دولت تشکیل ته قصد وکاوه علاء الدین تکش د دې کورنی د پاچاهانو یو مشهور سړی دی چه د خپل پلار ایل ارسلان د مړ کیدو وروسته د خپل وروړ سلطان شاه پرضد ئې تمرد وکړ او د خوارزم پر تخت کښینستلو څخه وروسته یی سلجوقې دریم سلطان طغرل په (ری) کښې مغلوب او وواژه، اود سلجوقیانو د مملکت مهمی برخی ئې د خوارزم په دولت پوری ضمیمه اوو تړلی سلطان علاء الدین محمد د همدې سړی ځوی دی چه د شرقی ترکستان د قراختائیانو دولت او د افغانستان غوری دولت او د آذربایجان اود فارس او آذربایجان داتابکانو کوچنی دولتونه ئې یو په بل پسی مغلوب کړل او د خوارزم لوی سلطنت ئې تشکیل کړه علاء الدین غوښتل چه د دښی

عباس امپراتوری ته په بغداد کښی سقوط ور کړی او په خپله یوازی د اسلام لویه‌امپراتوری جوړه کړی ، نو دهمدې مقصد دپاره ئی په(٦١٥)هجری کال کښی د خوارزم قوی‌اردو ته‌دسفر بری امرور کړ،په بیړه یی‌دفارس له‌لاری دعراق‌عرب په‌استقامت مارش وکړ، او خوارزمو مشاه په‌همدان کښی د ډیری سختی واوړې اوریدو په‌سبب لا هم‌معطل وُ،چه دخپل ملك وخواته یی‌د مغولو دراتلوخبرواوریدنولحکه ئې دبغدادفتحی څخه مخه واړوله بیرته راوګرزید ، چه په آخره کښی دمغولو سیلاب‌ټول ماوراءالنهر، افغانستان او فارس‌ونیول‌اودخوارزم‌شهنشاهی ئی‌دبیخه‌وایستله .

دخوارزم شاهانو نومونه — :

| | | |
|---|---|---|
| قطب الدین محمد دانوشتکین‌غرلحوی | ٤٦١ - ٥٢١ | ه |
| اتسز دقطب‌الدین محمد لحوی | ٥٢١ - ٥٥١ | » |
| ایل ار سلان د اتسز لحوی | ٥٥١ - ٥٥٨ | » |
| سلطان‌شاه دایل ارسلان لحوی | ٥٥٨ - ٥٨٩ | » |
| علاءالدین‌تکش‌دایل‌ارسلان‌لحوی | ٥٨٩ - ٥٩٦ | » |
| سلطان‌علاءالدین‌محمدتکش‌لحوی | ٥٩٦ - ٦١٧ | » |
| سلطان‌جلال‌الدین دعلاءالدین‌محمدلحوی | ٦١٧ - ٦٢٢ | » |

دافغانستان تهذیب‌اوتمدن له‌اولی‌پیړی‌ترااوومی‌هجری‌پیړی‌پورې:

په افغانستان کښی داسلام دمقدس‌دین دنشرېدو اود عربو د نفوذ په نتیجه کښی د ملت ذوق تغیر وکړ ، د پخوانی افغانستان مدنیت تهذیب، ژبه، علم او صنعت دمخه ولاړل، او دنویو تشکیلاتو په‌سوری کښی د ملت اومملکت په اداره او سیاست اوطبیعی استعداد کښی اسلامی نوی مدنیت دپښتنی رنګ سره ظاهرشو، اوپه تدریج ئی دپخوانی تهذیب اوتمدن ځای ونیو پښتنو وروسته له‌هغه چه خپل‌سیاسی استقلال یی‌تامین کړاولوی لوی دولتونه‌ئی‌په‌داخل کښی تشکیل کړل ، دوی‌خپله داسلام اوعربی ژبی په نشرولو پسی په داخل اوخارج کښی ووتل اواسلامی علومو ته‌ئی ترقی ورکړه . وروسته له‌هغه ئی دفارسی ژبی په روزنه او ترویج لاس پوری کړ چه په آخر کښی‌ئی داملی ژبه په ټول مملکت او خپلو هندی متصرفاتو کښی رسمی اوادبی وګرزوله او همداسی پښتنو خپل‌نوی آرت اوصنعت ظاهر کړ اوپه‌ډیرو علومو او فنونو کښی وړاندی‌لاړل اودعلم دنیا ته‌ئی لوی سړی اهدا کړل، لکه ابونصر فارابی ، ابوعلی سینا بلخی، ابوریحان بیرونی، امام غزالی ، عمر خیام نیشاپوری، فردوسی‌طوسی، مولوی رومی بلخی ، حکیم سنائی غزنوی‌او داسی نور .

په‌هرحال دافغانستان اسلامی‌تمدن، چه‌داولی هجری پیړی څخه شروع په (٦) هجری پیړی کښی ئی خپل‌صعودی قوس طی کاوه ، د(٧) هجری پیړی په‌او اتلو کښی د مغلو داوراووینو ډك دهشت ناکه هجوم د خزان په صرصرسره دپښتو څخه وُلوېد اوهغه دخراسان دلوی مملکت داووپیړیو عظمت اوجلال دتاریخ په‌غېږ کښی‌پټ‌شو او نورنو ډېری پیړی‌ممکن نشو چه افغانستان دداسی مادی اومعنوی کلکو تکرونو او صدمو څخه بیا سر پورته کړی .

دمغولو، چنګیز اوجغتای یر غلونه : اوومه هجری پیړی‌ نه‌یواځی دافغانستان اواسلامی ممالکو په تاریخ کښی بلکه دبشریت په‌تاریخ کښی یوداسی‌خونړی نکل‌دی چه هېرول ئی محال اوګران دی . لکه چه‌ډېری پیړی‌ پخوا دپخوانی روم مدنیت دآسیائی نژاده هونانو اواسلا واو ژرمن دبر برانو دتیری اویرغلونو په‌اثر دپښتو څخه وغورځید، دمغولو دبربرانو دچنګیز دبیرغ لاندی په‌همداغه شان سره داسلام دروښانه تمدن په‌مقابل کښی په‌شرقی مملکتو کښی تباه کوو نکی کارونه وکړل . طبیعی ده چه وحشی او بدوی طایفی هروخت متمدنو اوښکولو اوټرو تمنو ملتوته دحرص اوشوکی اولوټ ستر ګی لری، غواړی چه‌له هغو څخه ګټه وکړی او دهغو تمدن‌له‌منځه وباسی .

په (٥٥٨) هجری کال کښی ( ١١٦٢م ) تموچن نومی هلك، دآمودرود په‌پورتنۍ دره کښی دنیاته‌راغی، چه وروسته یی دچنګیز یعنی لوی شهنشا لقب ځان ته پیدا کړ . ددې هلك پلار (یسوغائی) نومید اودقبیلات بورچی کن دقبیلی څخه وُ چه په مغلستان کښی د خپلی طائفی مشر وُ . کله چه چنګیز دخپل پلار ځای ونیو خپل‌وحشی او ګاونډی قومونه ئی دیوه بیرغ لاندی راټول کړل اودمتمدنه ملتو وخوا ته ئی مارش ورکړ . چنګیز په (٥٧١) هجری کال کښی د خپلې قبیلې حاکم شو، اودهغه وروسته ئی چه د مخا لفینو سره ووهل، دطغرل خان چه‌په (اونګ‌خان) ملقب وُ اودکریت او ساقیز پرطوائفو ئی حکمداري درلوده، دمامورینو جزء و ګرزېد، طغرل دکنتی دغرو څخه دچین تردیواله پوری دترکو پریوه لویه‌برخه باندی باچهی کوله، خوسره دهغه‌هم په هغه مخالفت اوجنګ کښی چه‌ئی دچنګیز سره وکړ مغلوب شو اوخپل‌هیواد کی‌په (٦٠٠) هجری کال کښی دښمن‌ته خوشی کړ. دقنقرات اواویرات طائفی‌هم چه‌دارګون دسیند په‌ښی‌ خواکښی اوسیدل چنګیز ته تسلیم شوې . تیانګ دتا تارانو رئیس اوکچلوك دنایمنانو رئیس دجویرات اومرګد اونور دطا ئفو سره هم دچنګیز په مقابله کښی مغلوب‌شول، او پدې ترتیب سره چنګیز لوی پاچاشو اوخپل پایتخت ئی په قراقروم کښی چه دمنګولیا مرکز دی وټا که . په (٦٠٣) هجری کال کښی چنګیز دبرچی کن، کریت، نایمن، اویرات، ارلات، برلاس او جلایر مختلفی طائفی په یوې عمومي جرګه کښی ځپلو قوا ئینو په

تعمیل‌قانع او پابندی کړی . وروسته د هغه ئی (ایدی قوت) د اویغور دترکانو مشرخپل ځان‌ته مطیع کړ ، اودټولو دګډون اوترکیب څخه ئی دمغول په‌نامه یوه جامعه تشکیل کړه . اوپه (۶۰۸) هجری کال کښی‌ئی دشمالی چین پرامپراتوری‌ باندی حمله‌وکړه دطلاپاچا (اوتوبو) و تښتید اوپیکن پی ونیو اودبلی خوا دچنګیز یوې اندازی لښکرو د (یمه) او(سبتیای) دچنګیز دوو مشهورو جنرالانو دقیادت‌لاندی د کاشغر پردولت باندی حمله‌وکړه دطلاپاچا اوهنه‌ئی فتح کړ . په دې وخت کښی چه دچنګیز دکلکی امپراتوری‌ حدود شرقاً اوغرباً دچین دسیند څخه ددنیا تربام(پامیر)پوری ورسیدل، اوددې وسیع چوکات په‌منځ کښی‌خوسو وملیونونفوسو دچنګیز داطاعت بار، په رضا سره ؤ اوکه په زورسره‌ؤ، په‌غاړه درلود. متمردین او مخالفین یی بی دکوم امتیاز اواستثناء څخه دایشپدلو ابو په‌دیګیو کښی پخیدل،اودهغو آل‌اواطفال دچړودمخی‌څخه‌تېر‌بدل،اودهغوځایونه او ښارونه په کنډوالو سره بدلېدل . وروسته ددې دچنګیز د دامپراتوری‌ حدود دغرب خواته داسلامی مملکتو سره تماس پیداکړ اودمسلمانانوملتولکه‌دافغانستان، ماوراء النهراوایران دملتو امپراتوری دسلطان علاء الدین خوارزمشاه په‌نامه داورګنج په پایتخت کښی وې خو ددې دواړو وامپراتوریو په منځ کښی لوی فرق موجودؤ ، یدې معنی سره چه دتوران دمملکتو امپرا توریو سخت ذکی او دعزم خاوند اوجګړن اومحیل سړی ؤ، اوپریوې لوئی خوسوه ملیونی قوې او پریو ملیونی مطیع‌اوجنګی صابر او وحشي اردو باندی‌ئی حکومت کاوه چه‌تولو دهغه داوامرو په اطاعت کښی خپل ځان نه پیژاند ددې په‌عکس دمسلمانانو امپراتور یومدنی ،متکبر ، خود خواه سړی ؤ ، او پرهغو ملتوئی حکمرانی در لوده چه ټول متمدن شته من اودښاری خویونو خاوندان شمېرل کېدل محمدخوارزمشاه دخپل‌عیش وعشرت اوضعف‌نفس‌له‌املەدسلطنت اداره (تورکان) ملکې‌خپلی شوخ مشربی او جفاکارې مورته پری اینبی وه نو له‌دغه سببه دملت او دولت ټول مشران دهغه څخه خپه اوټپراوو ، اوهمدارنګه هغه دعباسی خلافاؤ ډېرچلباز اومحیل‌سړی (ناصر) دخپل‌ځان پرضد تیارکړی ؤ . ښولدې کښله ده دخپل ظاهری جلال اوجبروت لاندې دخپل دولت په زمینه کښی داضمحلال تخم کرلی ؤ ، دده عالی رتبه مامورینو ددښمن سره مکاتبه درلوده ، اوخلیفه ناصر چنګیز حملی ته تشو ېقاوه خوسره دهغه‌هم‌دمغولووامپراتور ددې‌خیال‌نه‌درلود چه دې‌قمارته وړاندی شی اودیوه لوی امپراتور سره‌چه دهغه دعظمت اوازه په‌ټوله دنیاکښی خپره‌ده ځان مقابل کړی . ځکه چه چنګیزډېر محتاط اودور اندیشه سړیؤ او پوهېده چه جنګ دخوارزمشاه سره‌دده دامپراتوری‌ دحیات اوممات مسئله‌منځ ته راوړی‌خوبیا هم‌دمحمد خوارزمشاه خود نمائی او تکبرؤ چه ویده دښمن‌ئی عمداً وینې کړ اودمسلمانانو ملکوته‌ئی دهغه مخه‌واړوله‌نتیجه هم‌هماغه وچه دنړی‌لوی‌مدنیت دزوال خواته ولاړ ، اودبشر دنژاد دیوی برخی تاریخ تبدیل شو . دخوارزم سلطان پخوا دکاشغر قراختائی‌دولت اودسمرقند ترکی دولت ، چه داسلامی امپراتوری‌ اود مغلودنژاد په‌مینځ کښی یوحائل اوسدؤدمینځه یووړل ، اودافغانستان غوری دولت‌ئی‌ورک کړی ؤ اودجګړی په‌ورځ خپله‌هم دخپلې امپراتوری‌ ددفاع‌څخه عاجزشو اودلوی مسئولیت بارئی په‌تاریخ کښی په غاړه واخیست لنډه داچه په(۶۱۶)هجری کال کښی ددې دواړو امپراتوریو په‌مینځ کښی دجګړی اور ولګید اوسبب‌ئی‌هم‌داؤچه د ماوراء النهر تجارتی کاروان، چنګیز په خپل اردو کښی په ډېرښه ډول سره و مانه اودتجارتی روابطو استحکام‌ئی دخوار زمشاه سره وغوښت اودخوارزم سلطان دهغه‌په‌عکس سره د مغلو تجارتی کاروان بندی اومصادره کړ اوپه دې پښې پسی ئی پیوسته دچنګیز سفیرچه ددې حرکت دپوښتنې دپاره راغلی ؤ اعدام کړ،چنګیز دډېر قهر اوغصی له کبله وژړل ، او ددوه لکه لیونی‌عسکر سره دسیل په شان دخوار زمشاه د حدودو خواته وخوځېد اویو ملیون نفرو دشا له خوا دوی تقویه کول د خوارزمشاه نیم ملیون منظم عسکر د سیحون اوجیحون په مینځ کښی دمدافعی‌دپاره تیارشول ، دمغلو مفرزی د کاشغر څخه فرغانی‌ته راتوی شول اوهم‌دسیحون څخه‌تېر شول دخوارزم سلطان‌په‌خپله د(قیلی) او(قمیر ) درودخانو په‌مینځ کښی په‌هجوم لاس پوری کړ اوخپله کینه خوائی دلاسه ور کړه خو دده ولیعهد جلال الدین ددې ماتې تلافی وکړه خوارزمشاه نور زړه‌وغور لخاوه اودده دربار منجمانو دی خو موده د دښمن دمقابلی څخه منع کړ ، هماغه ؤ چه د دښمن دمخی څخه بېرته پرشا وګرځید اودخپل ولیعهد اونورو افسرانو آراوې ئی ونه منلی خلق دده ددې بې سبب ماتی په سبب مایوس اومتاثر شول ، مخصوصا کله‌چه خوارزمشاه دخپل ضعف‌نفس دټولو د پاره خلق دمغلو دسیلاب دمخ‌نیوی دپاره دښارو او کلاګانو داستحکاماتو څخه منع کړل ، اووئی ویل چه داځه فائده نلری پدې ډول سره خوارزمشاه داخلی جبهه سره متفرقه کړه او خپل ورسره اردو ئی دماوراء النهر په مختلفو ځایو کښی سره تیت کړ اوپخپله‌ئی افغانستان‌ته پناه یووړه، ملکه او دده نور کهول هم‌داور ګنج پایتخت پرېښود او دفارس خواته ولاړل وروسته دهغه خوارزمشاه هم د بلخ څخه دفارس خواته وخوځید ددښمن لارئی قدم‌په‌قدم خلاصه‌پرېښوده ، په آخره کښی‌خپله د(ابسکون) په‌جزیره کښی ددنیاځخه ولاړ چنګیزهم په هغه و حشت اوشدت

سره چه په تاریخ کښی دهغه ساری او نظیر نشته دماوراء النهر بخارونه او کلاوی لکه اترار ؛ جند، کښت ، خجند ، بخارا اونورپه جنګ اوصلح سره فتح اومعدوم کړل ، او په زرهاوو اولکاو انسانانوئی محو اوتباه کړل دهغه څخه ورو ستهئی پهخپله پرافغانستان باندی یرغل راوړ ، اودهغه مفرزو پرافغانی ولایتو حمله وکړه خوارزم ، ترمذ، مرو ، بلخ، مرغاب ،هرات نیشاپور، بامیان ، غزنی، اونورئی د تورو خاورو سره برابر کړل اوپهملیونو انسانان اوحیوانانئی ووژل ، لکه چه دافغانستان ملت پههرځای کښی پهمدافعه لاس پوری او دمغلوډپر خاقئی ووژل ، دچنګیز لمسیئی په بامیان کښی او دهغه زومئی پهنیشاپور کښی ووژل اودهغه عسکرو تهئی پهپروان کښی ماته ورکړه ، اوجلال الدین خوارزمشاه ئی دچنګیز پر ضد تقویه اوتجهیز کړی ؤ نو دهمدې سببه دی چه مغلو سخته کینه دافغانستان دملت پهمقابل کښی په زړه کښی ټیولې وه اودهیڅ ډول بی سابقې و حشتو څخه ئی خپل لخانونه ونه ژغورل چنګیز په جلال الدین پسې دغزنی څخه د سند درود پهاستقامت وخوځید خوجلال الدین دسیند څخه تېرشو . اودمغلو عسکروتر لاهوراوملتان پوری لوټونه او چور کاوه ،چنګیزدسیندډساحل څخه دکابلستان خواته راوګرځید . او کله چه یی واوربده چه جلال الدین د سیند څخه بیرته راتېر شوی دی نو دی بېرته و ګرځیده اودسیند پرښیخوا غاړه ترچترال پوری لاړ، کله چه تېرېدل دتنګوټ علاقی ته سخت ؤ نوبیا پېښورته وګرځېد، او اودبامیانو پهلاری بغلان تهلاړ، اوهلته د جیحون څخه تېر شو او سمرقند ته ورغی . (٦١٩) هجری کال هم پایته ورسېد او چنګیزپه (٦٢٠) هجری کال کښی قراقروم ته دتګ قصد وکړ تردې وخته پوری دمغلو مفرزو اوعسکر دفارس په هیواد کښی دعراق عجم ټول مراکز ، آذربایجان ، ری ، قزوین، سمنان ، دامغان ،همدان ، تبریز، مراغه، اونخجوان لوټ اوتاراج کړل اوزیات خلك یېووژل . اوپهقفقاز کښې ئیدګرجستان مدافعین مړه کړل اودروسیی جنوبی جلګوتهداخل شول ،دوی د(ولګا) او(دانیوب) دسیندو په مینځ کښی دالان ترکان مغلوب کړل ، او خپله لارهئی دکریمیا خواته خلاصه کړه . اود (ژن)بنارئی لوټ کړ، دایلی دلاری دمغلومملکت ته داخلشول ،پدیترتیب سره دځو کلو په موده کښی چنګیز دچین دسیند څخه د عراق دحدودو پوری او دسنده دسیند څخه تر جنوبی روسیی پوری ئی داټول و طنونه ونیول ، اوخپلو اخلافوته ئی دجهانګیریلاره دروسیې څخه ترلهستان اومجارستان پوری او دچین څخه تربغداد اوشام پوری خلاصه کړه . دادیچه څوپیړی نه نورهم دده تخم اولمخلاد پهمغلستان ،چین ،منګولیا، سیبریا ، کریمیا ، قازان، قزاق ، استرا خان، ماورا ءالنهر ، افغانستان ا و فارس کښی حکمرانی وکړه .

چنګیز په (٦٢٤) هجری کال کښی مړشو او دهغه اولادی او لمخلاد (اغتائیه) پهعنوان پرچین او (طولونی) په عنوانپر مغلستان اود(هلوکو ئیانو) پهعنوان پرفارس او (چغتائیانو)په عنوان بی پر ماوراءالنهر اوافغانستان باندی مسلط پاتهشول . چغتائیانو په ماوراءالنهر کښی مرکز ونیو ، او افغانستان ئی د تخارستان اوبلخ څخهترکابل اوزابلپوری د هم هغه لخای څخه دخپلو حکامو په واسطی په وحشیانه ډول سره اداره کاوه . دافغانستان دشمالمغرب ولایات په هغه دوره کښی د فارس په مغولی حکومت پوری مربوط وو. او دسند ،کشمیر ، سیستان ، پاختیا، بلوچستان،اوګندهارا ولایاتو دمحلیملوك الطوا ئفیې شکلدرلود . او ددې سلسلی زیات مهم محلی پاچاهان دهرات کرتان ، او دسبزوار سربداریه ، اودسیستان او کشمیر اوسند محلی امرا دی . حال دادی چه د افغانستان ددې بحرانی دورې تاریخ ښه معلوم ندی بیلهدې څخه چهدچغتائیانو دتسلط پهزمانه کښی لخینی سرحدی جګړی دفارس دمغلو سره ، اولخینی داخلی چور اوچپاو ، اوکله هم دسیند نه هغیخواته پېښی شوی دی .

دچغتائیانو حکمرانان :

| چغتای | دجلوس کال | ٦٢٤ | هجری |
|---|---|---|---|
| قرار هلاکو | » | ٦٣٩ | » |
| یسوع منکو | » | ٦٤٥ | » |
| قرا هلاکو، مکرر | » | ٦٥٠ | » |
| ارغانخاتون | » | ٦٥٠ | » |
| الګو خان | » | ٦٥٩ | » |
| مبارکشاه | » | ٦٦٤ | » |
| براق خان | » | ٦٦٤ | » |
| نکپائی خان | » | ٦٦٨ | » |
| تغا تیمور | » | ٦٧٠ | » |
| دعا خان | » | ٦٧٢ | » |
| کنجوك خان | » | ٧٠٦ | » |
| تالیکو | » | ٧٠٨ | » |
| کبك خان | » | ٧٠٩ | » |
| پسون چغا | » | ٧٠٩ | » |
| کبك، مکرر | » | ٧١٨ | » |
| الجی ګدای | » | ٧٢١ | » |
| دعا تیمور | » | ٧٢١ | » |
| ترما شیرین | » | ٧٢٢ | » |
| سنجر | » | ٧٣٠ | » |
| جنګلی ماشی | » | ٧٣٤ | » |
| بوزون | » | ٧٣٤ | » |
| لیون تیمور | » | ٧٣٩ | » |

| | | | |
|---|---|---|---|
| علی اغتائی | دجلوس کال | ۷۴۰ | هجری |
| محمد | « | ۷۴۳ | « |
| قازان | « | ۷۴۴ | « |
| دانشمندجه اغتائی | « | ۷۴۷ | « |
| بیان قلی | « | ۹۴۹ — ۷۶۰ | « |

دهرات دکرت پاچهان : دافغانستان د غوری سلطنت په دوره کښی د سلطنتی کورنی دتربرو (کاکازامنو) څخه یو سړی د (عمرمرغنی) په نامه دهرات نائب الحکومه وٶ،اود مغلو په زمانه کښې د(عمرمرغنی)دورور داولادی څخه یوسړی دملك رکن الدین کرت ، په نامه دهرات د خیسا ر په کلا کښی حکومت کاوه ، دې سړی دچنګیز دیرغل په وخت کښی خپله منطقه دمغلو داطاعت منلو په واسطی سره محفوظه وساتله، اوده حکومت په خپسار اوغور کښی تصدیق اوومنل شواوشمس الدین دٶهغه لمسی د هغه کومك په بدله کښی چه په یوه جګړه کښی ئی دمنکوقا آن سره وکړ دغرځستان ، اسفزار ، فراه اوسیستان دحکومت فرمان ئی هم حاصل کړ ،نوځکه ئی دملك سیف الدین دمیمنی دمحلی حاکم او ملك نصر الدین دسیستان دمحلی امیرسره جګړه شروع کړه اوهغه دواړه ئی دمنځه لری کړل، شمس الدین یوفاضل عاقل او مدنیت رو ز و نکې سړی وٶ او په حقیقت کښی دی د کرت دسلسلی موسس شمېرل کېږی ، شمس الدین دخپل د سیاست موازنه د ماوراءالنهر دچغتائی اود فارس دایلخانانو دحکومتو په مینځ کښی ساتله، خودهغه جنګ څخه ورو سته چه په (۶۷۷) هجری کال کښی ددې دواړو حکومتو په مینځ کښی پېښ شو، اوچغتائی براق د ایلخانی اباقا آن په مقابل کښی مغلوب شو نو داسیاسی تعادل دمنځه ولاړ اوشمس الدین مجبور شو چه د اباقا آن دعوت ومنی او په خپله اصفهان ته ولاړشی اودی په(۶۷۶) هجری کال کښی په هغه ځای کښی دزهرو ور کو لو پسیب ددنیا څخه ولاړ .رکن الدین محمد ،چه په شمس الدین کهین سره مشهور وٶ د لمړی شمس الدین ځوی دکرهنی او ودانیو د ترقی په لار کښی ډیر خدمت و کړ فخرالدین دهغه ځوی وٶ چه یورشید، دپوه خاوند،ادیب ، شاعراوزیرورسړیوٶ،اودر بیعی(کرت نامی)دکتاب ناظم ممدوح دی ، اودفارس دمغلو په مقابل کښی ئی په ډیره مړانه او زړوتیا جنګونه کړی دی ملك حافظ ددې کورنی یوبل حکمدارو چه ډیر ښه خطاط وٶاو دهغه ورو معزالدین حسین په عدالت او تقوی ،شجاعت او نظام کښی یوممتازسړی وٶ. معزالدین دتغاتیمور لورلخان ته په نکاح کړه ،اود امیر قزغن یرغل ئی دهرات څخه دفع کړ،اودسبزوار محلی حکومت ئی مغلوب کړ . غیاث الدین پیرعلی دکرت دکورنی وروستنی حکمداردی، چه دسبزوار د سربداریه حکومت سره په داخلی جګړو کښی بریالی اوغالب شو، اودخپل نیك اوښه سیاست په واسطه یی د امیرتیمور کورګان خورځه (بیګم سو بخ قتلق آغا) دشیرین آغالور ئی خپل زوی پیرمحمد ته په نکاح کړه ، خو په هغه هجوم کښی چه تیمور په هرات وکړ په(۷۸۳)هجری کال کښی پیرعلی دجنګ څخه وروسته تسلیم شو اوبندی سمرقند ته ولیږل شو ، او په همغه ځای کښی په (۷۸۵) کال کښی ووژل شو ، اوپه آخره کښی ددې کورنی دحکومت چراغ په(۷۹۱) هجری کال کښی بیخی مړشو . دهرات دکرت حکومت دافغانستان یوالخنی محلی حکومت دی ، چه د مغولواو چغتائیانو دبربریت په دوره کښی دښه سیاست اوصحیح تدبیر په واسطه سره یی دهیوادیوه برخه اداره اووساتله اوپخوانی ملی تهذیب اوتربیت ئې ژوندوی ساتلی دی دهرات دکرت دحکومت څخه پرته دمغلو داستیلاء په وخت کښی دامیرتیمور کورنی دهجوم تروخته پوری نور محلی حکومتونه هم په افغانستان کښی و ، او ځنیی نوی تاسیس شوی وو،اوهریو دمملکت دمختلفو مناطقو موجودیت دخارجی دښمنانو په مقابل کښی ساته ،لکه دسربدار یه حکومت چه په (۷۳۷)هجری کال کښی د عبدالرزاق دجمال الدین فضل الله د زوی په واسطه چه دافغانستان د برامکه وٶ د تاریخی کورنی نژاد ته منسوب دی د سبزوار په ولایت کښی تاسیس شوی دی او دفارس دمغولی دولت په مقابل کښی ئې مقاومت کاوه،سربدار یانو دسبزوار په حکومت هم اکتفاو نکړه یوځل د جرجان په ولایت مستولی شول او بلکه یو ځل ئې نیشاپور هم تصرف کړ . خود(۷۸۳هجری کال)په پای کښی دتیمور کورګانی په چپاو کښی له منځه وړتل همدغه رنګه په همدغه هجری آتمه پیړۍ کښې دحام دسردارانو سلسلی سند په ولایت کښې دپخوانیو محلی سردارانو ځای ونیواو دوې پیړۍ ئې دوام وکړ، حاما نوله ۷۵۲ کال څخه تر ۹۲۷هجری کال پورې دوام وکړ اوتل ئې دهند دمغلو دامپراتوری په مقابل کښې دخپل ولایت اوحکومت د تمامیت دساتلو له پاره کوشش کاوه .ترشوچه په لسمه هجری پیړۍ کښې دقندهار دولایت (ارغونیی)محلی سردارانو په سند کښې ددوی حکومت ته خاتمه ورکړه د کشمیر په ولایت کښې هم په اتمه پیړۍ کښې دشهمیرانو سلسلی د(دیوانو)دمحلی حکومت ځای ونیو اوله ۷۴۲ کال څخه ئې تر ۹۹۵ کال پوری خپل حکومت ته دوام ورکړ ، دغه دوې سلسلې(دیوان له ۵۳۱ کال نه تر ۷۴۲ هجری کال پوری) نه داچه یوالخې دچنګیز اوچغتائې دچپاونو په مقابل کښې ساتلی او ګرښې پاتی شول بلکه په پیړیو پیړیو ئې په ښه سیاست سره خپل موجودیت دهندوستان دبابریانو او افغانی امپراتوریو په مقابل کښې وساته ،که څه هم ددیوانو لړۍ ته د کشمیر د شمال له لاری څخه دمغولو دجنس له زهر ناکو تیریو او چپا وو څخه ډیرتاوانونه ورآوښتی وو په پای کښې وروستنی لړۍ هم چه د کشمیر په ولایت کښې د علم او ادب اودآرټ اوصنعت رواج کوونکی وه په لسمه پیړۍ کښې د هندوستان د بابریانو د دولت له خوا منقرضه شوه . بل محلی حکومت په افغانستان کښې

سره له‌دې چه‌ډيرملکی،مالی‌اوځانی زيانونه ور اوښتی وو خودمغلو اوچغتائی دچپاؤو په‌مقابل کښې ئی تريوې مودې پورې ځان‌وساتو، همدغه‌دسيستان دولايت‌محلی سرداران دی چه له پيرپويپريونه دافغانستان‌دصفاری پاچاهانو سلسلې‌ته منسوب دی اوترلسمې پيړۍ پورې‌يی پايښت کړی دی . او دافغانستان دغزنوی،غوری اوخوارزم شاهی امپراتوريو په‌زمانو کښې ددغې سلسلې اشخاص ددغو دولتو نائب‌الحکومه‌گان او عاملان وو اودمغلو په‌چپاوو کښې دسيستان له‌ودانۍ اومدنيت‌سره يوځای له‌منځه‌لاړل، خوځرنگه چه‌دمغلو لومړی سيلاوله‌سيستان نه‌تيرشو ييا دشهاب‌الدين محمودبن‌حرب سيستانی په‌واسطه‌محلی حکومت تشکيل‌شو. شاه عثمان چه‌دمحمود په‌ځای ناست ؤ او تاج‌الدين چه‌دعثمان په‌ځای کيناست ددغه‌حکومت په تقويه کښې ئی ډير کوښښ وکړ خوبيادمغلو چپاوشروع او تاج الدين له‌منځه لاړ اودسيستان خلکو په‌سيستان کښې دننه اودترمذ په سرحد کښې دمغلو په دفاع کښې ډيره‌ميړانه اوغيرت ښکاره کړ . په هرحال داسې معلوميږی چه دسيستان حکومت په چغتائی دوره کښې بياخپل ژوندته‌دوام ورکړی دی اودغه تيمور کور ګانی ؤچه‌په اتمه هجری پيړۍ کښې‌ئی په‌فراه اوسيستان هجوم ور ووړ اومحلی سرداران لکه‌سيستانی قطب‌الدين او فراهی ملک جلال الدين‌ئی مغلوب اوله‌منځه وايستل خوسره له هغه هم دسيستان‌محلی حکومت‌ترلسمې‌پيړۍ‌پورې په غربی‌افغانستان دفارس‌دصفوی‌دولت ترهجوم او استيلا پورې دوام وکړ .

امير تيمور گورګان اوافغانستان : دافغانستان او دماوراءالنهر دجغتائيانو حکومت له‌يوې پيړۍ نه‌وروسته مخ په‌ځوړ(تنزل) شو پدغه‌وخت کښې په(٧٣٦) هجری کال کښې امير تيمور چه‌په (گوړه تيمور) سره مشهورؤ د ترکو دګورګانی کورنۍ دمامورينوديوه‌مامور کره وزېږيد اودزلميتوب په‌وخت کښې‌ئی له‌خپل‌اوښی اميرحسين‌سره يوځای‌موده په افغانستان کښې دمحلی امراؤ په‌خدمت کښې کارکاوه تيمور پدغه موده کښې افغانی سياسی روزنه له‌ترکی خشونت سره يو ځای کړه اودې ته‌ئی ملاوتړله چه‌چغتائی‌زړور حکومت‌له‌پښو واچوی او پخپله دچارو واګی‌په‌لاس کښې ونيسی اوهغه وخت چه دی د تغاتيمور چغتائی دحاکم‌په‌حيث‌په کشکی کی اوهغه‌وخت چه‌دسويور غاتمش دوزير په‌حيثئی کارکاوه چغتائی‌حکومت‌ئی غصب اود کش او سمرقند ښاروناڼی ونيول، اويوازی ديوه‌چغتائی واکمن له پاره‌ئی تش نوم‌پرښود خودغه‌حال‌هم ډيره موده دوام ونکړ او تيمور خپل ملګری اوقوی‌رقيب امير حسين‌ته په جګړه کښې ماتی ورکړه اومړئی کړاوپخپله‌ئی دسلطنت‌اعلان‌وکړ . تيمور د ماوراءالنهر اود خوارزم دولايت له نيولونه وروسته په (٧٧١) کال کښې دافغانستان دنيولو له‌پاره راوخوځيد اواته‌کاله پدغه ځای کښې په‌جګړه اخته‌ؤ اوپه نتيجه کښې‌ئی د افغانستان ښارونه چه‌پدې وخت کښې‌ئی يوشه رونق نيولی ؤ په‌شمال اوغرب کښې‌ويرانګ اووران کړل اودهيواد محلی سرداران له منځه لاړل له هغه وروسته تيمور دپاريس مملکت له مازندران څخه تررې اوسلطانيې اودآذربايجان‌او ګيلان څخه ترګرجستان‌اوداغستان پورې بې‌له‌کوم‌مانع‌څخه ونيو اوپه اصفهان کښې‌ئی داويازرو تنو بې‌ګناهو کسانو له‌سرونه ځلی‌جوړ کړ . اوله‌هغه وروسته تيمور عراق‌عرب‌ته مخه‌وکړه بياروسيی‌ته متوجه شو او ماسکو ئی‌لوټ کړ اوپه ٨٠١ کال کښې‌ئی دافغانستان‌له‌لاړې په هندباندې حمله وکړه اوتر ډيلی پورې وراندې‌لاړ اوافغانی دولت هلته متزلزل‌شو. تيمورپه ٨٠٤ کښې په‌کوچنۍ آسيا حمله و کړه اوانقرې‌ته نژدې جګړه کښې‌ئی دعثمان ترکانو دولت ته ماتی ورکړه اودترکو (يلدرم) نومی زړور سلطان ئی ونيو تيمور پدغه‌جګړه کښې بروسه‌پخوانی عثمانی پايتخت‌ونيو ، او ډيرو ښارو له‌لوټولونه وروسته تر مديترانې پورې ورسيدکوم‌وخت چه‌تيمورخپل پايتخت سمرقندته راورسيد په (٨٠٧) کال کښې ئی‌دچين ډپراخ مملکت نيولوته ملاوتړله خوعمر وفا ورسره ونکړه په همدغه‌کال په اترار کښې مړ شو . تيمور دمشرق‌له فاتحو اومد برو پاچاهانو څخه يو پاچاؤ (دتيمورګورګانی ماده‌دې وکتله‌شی) دتيمور له مرګ وروسته دده دزامنو ترمنځ اختلافات پيښ شول په‌بای کښې د ده ځلورم زوی‌شهرخ دهرات دولايت نائب‌الحکومه پاچا شو او په افغانستان کښې دهرات ښار دکورګانی امپراتورۍ مرکز شو .

دافغانستان تيموری دولت : شهرخ دهرات په تهذيب اوتمدن مينؤ اودافغانستان له‌روزنی اوثقافت سره‌ئې ډيره مينه‌درلوده ده‌دې ځلوينت کاله په‌افغانستان کښې حکومت وکړ اوتردې درجې‌پورې‌دی ترافغانی تاثير لاندې راغی چه دی او کورنۍ ئې بيخی دافغان په ملت کښې تحليل اوتمثيل‌شول اوپوره يو افغانی دولت ئې تشکيل کړ ، ددغې حکمرانی سلسلې دافغانستان دودانۍ اوآبادۍ ، پوهنی اوروزنی ،علم‌اوادب اوصنعت‌ته‌ډير خدمتونه‌وکړل ، اوپه هغو پرهاروئی ماهم کينبود چه‌دچنګيز ،چغتای اودتيمور له‌لاسه ورپښ شوی‌وو . دشهرخ اوده دګرانې اوشريفی‌ملکې (ګوهر شاد) شانداره‌اومجللی ودانۍ اوس هم دهرات ادمر وې او دمشهد دنار په‌خرابو کښې‌موجودې‌دی ، اوددغې کورنۍ دمد رسو نومونه په‌تاريخ اوسيرو کښې ليکل‌شوی‌دی. الغ بيګی‌مشهور زيچ هرځوک‌پيژنی اودسلطان حسين‌اوامير‌علی‌شير نومونو ته‌هرځوک په‌درنو ستر ګو ګوری او احترام ئی کوی. افغانی معروف رجال لکه جامی شاعر، اوخواند مير مورخ اوبهزاد نقاش

اومیرعلی خطاط ټولو پدغه دوره کښې د ادب او فن دنیاته ترقی اوروښانی ورکوله. لنډه‌داچه دافغانستان تیموری دولت دعلم اوحکمت اواجتماعی تنزل اوانحطاط له دوو پیړیو نه وروسته (دچنګیز له‌هجوم نه دتیمور تر مرګ پورې) بیا دافغانستان دتهذیب، تمدن اوعلومو اوفنونو په پیشرفت کښې ډیره مرسته وکړه اوتقویه ئې کړل او دجامی ادبی اودبهزاد نقاشی عصرئی منځ‌ته راوایست‌په‌داسی حال کښې چه د چنګیز له‌هجوم نه دامیر تیمور ترمرګ پورې د پخوانیر آریانا دمملکت یاداسلامی خراسان ټول تهذیب او تمدن فناشوی او ښارونه ړنګ، نفوس وژل‌شوی اوتښتېدلی، علماً او فضلاورك شتمنیر اوپانګې‌لوټ، زراعت اوصنعت تباشوی وو، اوپه نتیجه کښې له برم څخه ډك اورون مدنیت په‌وحشت‌سره بدل شوی وو لکه چه مونږ ددغو دوو پیړیو په تاریخ کښې دافغانستان دپخوانیو رجالو څو معدود یادګارونه لیدلای شو او بس. لکه دعطاملك جوینی مؤرخ، خواجه نظام الملك دنجوم او ریاضی عالم، سعدالدین تفتازانی عالم او حکیم.

(ددغو مشاهیرومادەدې وکتله شی) په‌هرحال دافغانستان تیموری دولت یوه پیړیر دوام ومکړ، اوپه پای کښې دفارس دصفوی اودماوراءالنهر دشیبانی دولتو دظهور په واسطه ئی سیاسی دوره ورځ په ورځ محدو دیدله ترڅو چه بیخی له‌منځه ووت اوخپل ځای‌ئی په‌شمالی او غربی افغانستان کښې دغو حکومتونه اوپه شرقی افغانستان کښې ئې د هند بابری نوی جوړ شوی دولت ته پرېښود، اوپدې ډول بیا افغانستان تجزیه او مخ په خرابیر شو.

دافغانستان تیموری پاچاهان :

| | | |
|---|---|---|
| شهرخ میرزا | کال | ۸۰۷ - ۸۵۰ هـ |
| الغ بیګ | کال | ۸۵۰ - ۸۵۳ » |
| بابر مرزا | کال | ۸۵۴ - ۸۶۱ » |
| ابو سعید | کال | ۸۶۳ - ۸۷۲ » |
| سلطان‌حسین میرزا | کال | ۸۷۲ - ۹۱۱ » |
| بدیع‌الزمان | کال | ۹۱۱ - ۹۲۰ » |

شیبانی اواستراخانی نفوذ : دلسمی هجری پیړیر په‌اولو وختو کی محمد شیبانی نومی یوسړی دهلاکو خان له څو ځاد څخه له خپل ټبرسره له سایبیریا څخه ماوراءالنهر تهراغی اودکورګانی کورنیرحکومت یی له‌منځه وایست، اواوزبکیه حکومت یی تشکیل کړ، د دغه حکومت پاچهان دوولس تنهؤ، چه‌له ۹۰۶ هجری کال څخه تر ۱۰۰۷ کال پوری ئې په ماوراءالنهر کښې حکومت وکړ، اودخوارزم دولایت دمحلی حکومت یوه برخه یی هم ونیوله، لنډه داچه شیبانی حکومت سربیره دخوارزم پر ولایت دافغانی تخارستان ولایت ته‌هم لاس اوزدکړ اوحتی دبلخ اومروی ولایتونه یی هم ونیول، اوددوی سلطه پردغو ولایتو باندی هم نه‌وه منحصره دهرات اونیشاپور ولایتونه‌هم ورسیدل.

دشیبانیانو عمده مرکز سمرقند اوبخاراوه، او دافغانی متصرفه ولایتونه ئې دمال دلاس ته راوستلونه پر ته بله کومه توجه نه درلوده. اوددوی تخر یباتو په افغانستان کښې ددوی ترسلطی لاندې ولایتو کښې یوه پیړیر دوام وکړ.

(دشیبانی ماده دې وکتله شی) د یوولسمی هجری پیړیر په‌سرکښې یوبل ټولګی چه‌داستراخان د خانانو په‌نامه یادیده اودروسانو له‌خوا منقرض اوطردشوی وُو، د شیبانیانو دربارته ئې پناراوړې وه په‌ماوراءالنهر کښې ئې دشیبانی امرا وُ ځای ونیو او۱۳ تنوئې له ۱۰۰۷ هجری کال څخه تر۱۱۶۷ کال پورې خپل حکومت ته دوام ورکړ، دوی هم دخپلو اسلافو په‌څیر دافغانستان په‌شمالی ولایتو کښې د تخریب اولوټولو نه منع رانه وړه. دافغانی تخارستان په‌ولایت کښې ددوی مستقیم نفوذ خپور شو اوکله به‌ئې بلخ هم ترخپل نفوذ لاندې را ووست. اودوروستی ولایت دنیولو په باره کښې د دوی او دفارس دصفوی اودهند دبابری حکومتو تر منځ شخړه او کشمکش جاری وُ خودهرات ولایت په پای کښې له‌دوی نه صفویانو ونیو. په‌هرحال د افغانستان په شمالی ولایتو کښې دشیبانیه اواستراخانیه حکومت مستقیم او غیر مستقیم تسلط دتخریب، لوټولو، تنزل اودعلمی او اجتماعی انحطاط سبب‌شو دافغانستان دتیموری دولت د ترقیر دوره ئې لکه دخوښیر خوب له‌خاطرونه محو کړه.

صفویانو نفوذ : دلسمې هجری پیړیر په‌سرکښې دفارس صفوی دولت تشکیل شو اوله ۹۰۷ هجری‌کال نه‌تر۱۱۳۵ کال پورې‌ئې دوام وکړ. دغه‌دولت د ماوراءالنهر دازبکیه حکومت په شان د افغانستان نیولوته هڅه کوله. اودنیشاپور، هرات مرو، بلخ، سیستان اودقندهار په‌ولایتوئې دتیریو بناوکړه‌اودهغو جګړو له کبله چه د صفویانو او ازبکانو تر منځ دافغانستان په شمالی ولایتو کښې له بلخ څخه ترهرات پورې وشوې ددغه مملکت ستر و ولایتونه ئې ډېر ضرر او خرابیر و رسولې، ځکه چه ازبکان داړه مار اولوټ کوونکی‌وو او صفویان هم د مذهبی تعصب له امله افغانستان ته له دوی څخه زیات مضر ثابت شول، لنډه داچه صفویانو دهرات، نیشاپور، سیستان، مروې او دقندهار ولایتونه دازبکانو اودافغانی محلی امراوُ او دهندوستان دبابری دولت څخه ونیول اوتریوې‌مودې پورې‌ئې په لاس کښې وو. او دهرات مشهور بنار ددوی اود ازبکانو په جګړو کښې ډنګ او په زر هاوُ بی ګناه کسان

پکښې ووژل شول ، او سیستان او قندهار هم ترشکنجې لاندې ونیول شوو، هماغه ؤ چه د افغانستان هوتکی دولت تشکیل شو افغانستان ئې آزاد او په فارس ئې حمله وکړه اوئې نیو او دصفویانو دولت ئې په ۱۱۳۵ه کال کښې له منځه وایست .

دبابریانو ددولت نفوذ : دلسمې هجری پیړۍ په سر کښې

چه دافغانستان مملکت دشیبانی اوصفوی حکو متو په کشمکش اواړو دوړ اخته ؤ ، دامیر تیمور کورګانی یولمسی چه بابر نومید له فرغانې څخه را پیداشو ، په ماوراءالنهر کښې ئې سمرقند ونیو خو ژرئې له ازبکانو څخه ماتی وکړه په پای کښې د سمرقند له بیانیولو نه ورو سته افغانستان ته راغی اوپه کابل کښې دیوه قوی حکو مت په تشکیل بریالی شو . بابر ستر او اولو العزمه سړی ؤ ، افغانی روزنه اوادب ئې اخیستی ؤ ، دی په ۹۳۲هجری کال کښې له افغانستان نه هند ته وخوځید اوله یوې مودې جګړونه وروسته ئې په پای کښې د ګنګ په حوزه کښې افغانی لسودی دولت له پښو واچاوه اوخپل سلطنت ئې اعلام کړ . بابر لکه شهرخ غوندې دافغانستان روزنه اخیستی وه اوپه تهذیب ئې مین او کابل ډیر پرې ګران ؤ، اویو شمیر ودانۍ ئې دلته جوړې کړې وې نوپخوا له دې چه په هندوستان کښې مړ شی وصیت ئې وکړ چه دکابل په یوه بن کښې ئې خښ کړی .

له بابر څخه وروسته دده زوی همایون دهند دامپراتورۍ په تخت کیناست خو دافغان سوری شیر شاه د کلکو جګړو په نتیجه کښې دی فارس ته وتښتید او سوری بیا دافغان شهنشاهی دهند په مملکت کښې اعلام کړه ،سره له هغه هم له یوشه مودې وروستی همایون وکولی شو چه د هند له لاسه وتلی سلطنت بیرته ونیسی او دده زوی جلال الدین اکبر په ډیر جدیت سره دډیرو کلو په موده په ټول هند کښې خوافغانی دولتونه له منځه لرې کړل ، اوداوه چه نه یواځې هند کښې بلکه د افغانستان ولایتونه لکه کشمیر ، ګند هارا او کابلستان هم دهند دبابری دولت تر تسلط لاندې راغلل ، خو د شاه جهان اوعالمګیر له مرګ نه وروسته ددغې سلسلې نورو پاچاهانو په نیولی افغانستان کښې پرته دخراج له اخیستلو نه نوره پاملرنه ونکړه ، بلکه دوی ډیر ګوښش کاوه چه دهند د افغانی دولتو پیروی وکړی اودګنګ حوزې ته ترقی ورکړی پښتانه هم دهند دبابری دولت دتسلط په موده کښې په افغانی ولایتو کښې غلی نه وو ناست لکه پیر روښان خوشحال خان خټک اود یوسف زیو طائفو دسند له سواحلونه ترجلال آباد پورې دبابریانو په ضد فعالیتو نه کول اوجګړې ئې ورسره کولی . لنډه داچه په مفتوحه افغانستان کښې د هند د بابری دولت تسلط سره د هغو مدنیت پاللو چه دوی درلود مهمه اغیزه و نکړه ځکه چه ددوی د تمدن او ودانۍ مرکز په هندوستان کښې ؤ .

دافغانستان هوتکی دولت : دافغانستان د تیموری دولت

دډیرنګیدو څخه وروسته دماوراءالنهر داوزبکی، د فارس دصفوی او دهند دبابری دولتو په لاس دافغانستان له تجزیې نه وروسته دلسمې هجری پیړۍ په سر کښې دافغانستان مشران کرار او آرام نه وو ناست ، دپردیو دایستلو په عملیاتو لګیاوو ، اوداکار هم مشکل ؤ ، چه ژر په دریوو قواوو باندې بری لاس ته راولی ، دپیرروښان اودده داخلافو سیاسی او نظامی فعالیتو او دافغانستان په شرق کښې دیوسف زیو جګړو اودخوشحال خان حرکاتو ډیر کلونه او ډیری میاشتی دوام در لود ، خو په پای کښې دهند د دولت په مقابل کښې ناکام شول ترڅو چه د افغانی سردارانو عملیات په قندهار اوهرات کښې دفارس د دولت په ضد شروع شول اودشرقی جبهې دناکامی تلافی ئې وکړه .دیوولسمې هجری پیړۍ په سر کښې د فارس پنځه ویشت زره عسکر د دوی له ګرګین نومی ار منی حاکم سره په قندهار کښې موجودوو، خلکو چه فرصت ته کتل تل به ئې دایران له قواؤ سره مخالفت کاؤ، ګرګین دخلکو داقداماتو دمخ نیوی له پاره میرویس خان دهوتک شاه عالم خان زوی دغلجیو دطائفو مشر د قندهار له ښار څخه اصفهان ته تبعید کړ ، میرویس خان د اصفهان داداری په ترتیب کښې او دهغه ځای دچارو دواکمنو په شخصیت کښې له دقت اوغور نه وروسته مکې مکرمې ته لاړ ، اوچه بیرته اصفهان ته راغی حسین صفوی پاچائی په دې راضی کړ چه دی بیرته قندهار ته لاړشی، اوځرنګه چه په ۱۱۲۰ه کال قندهار ته راورسید نوئی نوز ملی مشران را غونډ کړل او یوه شپه ئې ګرګین او دده ملګری مړه کړل . اوخپله خپلواکی ئې په قندهار کښې اعلان کړه. وروسته له دې د فارس دولت خپل خسرو نومی منصبدار له شلو زرو عسکرو سره قندهار ته راواستاوه خومیرویس پخپلا دی دده له اردوسره په ۱۱۲۳ ه کال کښې نابودا وله منځه وایست . اوبیا چه دفارس نورې قواوې درستم نومی یومنصبدار په مشر توب قندهار ته را ولیږلې شوې هغه ئې هم له منځه یووړې . له دې وروسته میرویس خان په قندهار کښې د پښتنو دخپلواکۍ ډېره کیښو ده او د افغانستان خپلواکۍ ئې اعلان کړه . او د ملی رئیس په حیث ئې حکو مت کاوه خو میرویس له اته کاله حکومت څخه وروسته چه تردغه وخته لا دحکومت په اداره توحید نه ؤ بریالی شوی مړشو، اوددهورورشاه عبدالله دده په ځای کښیناست . شاه عبدالله وغوښتل چه له صفوی دولت سره خبرې اترې اوسوله وکړی ، خو څرنګه چه خلك دده په نقشه خبر شول او بی اندازی دفارس ددولت په ضد وو . نوبې دده نظریه و نه منله او شاه محمود د میرویس زوی ئې پاچا کړ او شاه عبدالله ئې دده په لاس له منځه لرې کړ . ځلمی شاه محمود دخپل پوه او نومیالی پلار نقشه تطبیق کړه ،

پدې معنی چه پلارئې ددښمن لښکری دقندهار نه وایستلی اوپه هرات کښې ئې دیوه آزاد محلی حکومت دتا سیس فرصت دافغانستان دابدالی طائفې مشرانوته پلاس ورکړ او دسیستان دمحلی سردارانوله پارهئې ددښمن په خلاف د سیاسی فعا لیت زمینه برابره کړه خوهغه کار چهده غوښت چه سرته ئې ورسوی سرته ئی ونه رساؤ اومړ شو . دادی چه محمود دخپل پلار نقشه پسې تعقیب کړه اویو قوی اردوئی برابر کړ ، اوپه ۱۱۳۳کال دکرمان ولایت ته وخوځید اوله لطفعلی د فارسی لهعامل سره له مصالحې وروسته بیرته قند هار ته راغی اوپه ۱۱۳۵کال کښې ئی په قم او کرمان باندې حمله و کړه اوپه قطعی صورت سره ئې دغهلحای ونیو ، اودیزد په لاره اصفهان دایران پایتخت ته وخوځید، دفارس دولت په (کلماباد ) کښې دپایتختدلښکروپه واسطهمدافعې تهودریدخوافغانی لښکروماتی ورکړه اود فارس لښکریپه پایتختاصفهان کښې کلابندیشوی پدیحال کښې شاهمحمود،صفوی پاچاته پیشنهادو کړچهدافغانیدولت خپلواکی پههغو ټولو و لایتو کښې چه پخوا ایران نیولی ؤو ، لکه سیستان، خراسان، کرمان اوقندهار په رسمیت وپیژ نی اوکال پهکال دې قندهارتهیوشه خراج ورکړی او اوس دېهم دسفوی پاچاهیړ کورنیړ یوه نجلیړ ده ته ورواده کړی پدې صورت کښې به صفوی دولت محفوظ پاتیشی خوصفوی دولت دشاهمحمود دغه پیشنهاد ونه مانه، نوشاه محمود دې ته اړ شو چه دوی پهزور لځانته تسلیم کړی، هماغه ؤو. چه له سختی محاصرې نهوروسته اصفهانتسلیم اوشاحسین صفوی دشامحمود حضورته ورغی اوپخپل لاسئې دایران تاج هغه ته ورو سپاره لهدې وروسته شاهمحمود دافغانستان دپاچا او دفارس د شهنشاه په حیث تر۱۱۳۷هجری کال پورې دفارس دمملکت پهتأمین او تنظیم لګیاؤ . پدې وخت کښې چهپه داخل کښې تهماسب دصفوی شاهحسین زوی په دسیسو جوړولو مشغول ؤ، اوپه خارج کښې دروس اوعثمانی ترکی دو لتو د فارس دهیواد نیولوته دحرص لاسونهراغځول،تهماسب لښکرې برابری کړی اوله شاهمحمود سره د مقابلې له پاره ډګرته را ؤوت دقزوین خلکو داشرف خان دشاه محمود دتره د لحوی پهضد چه ددوی حاکم ؤ بغاوت وکړ دې کار شاه محمود دې ته اړ کړ چه قزوین،قم، کاشان ، ګرجستان،یزد او نور لحایو نه دعسکری قواوو په ذریعه آرام کړی او دصفویانو شاهی کورنیړ له منځه لری کړی شاهمحمود له هغو مامورینو اوخلکو سره درشته رویه وکړه چه دصفوی پاچا په ضدئیخیانت کړی ؤو، اوله اروپائی خلکو سره ئې ښه رویه وکړه پدغه موده کښې حسینخان هوتك د شاهمحمودورور پهقندهار کښې دده وکیلؤ اودهرات ولایت دابدالیانو په لاس کښې ؤ اود توس په ولایت کښې هم شاهمحمود یو محلی حکومت د ملک محمود خان سیستانی په مشرتوب تشکیل اوتقویه کړ او سر بیره پردې دفارس د مملکت فتح او نظامی چاری هم زیا تره پخپله د شاه محمود په غاړه وې اودغو ډیروشغلو او وظیفو افغانځلمی فاتح پاچا ستومانه کړ اوددە اعصاب ئې له کاره وا یستل . پدې حال کښې پښتانه سرداران دشاه محمود له نا رو غیړ او ددولت دچارو دخرابیړ نه اندیښمن شول . نوئی اشرف خان دده دتره لحوی چه یولائق اوپوه لځلمی ؤ دواك خاو ند کړ ، شاه اشرف په ۱۱۳۷ هجریکال کښې دایران پهتخت کیناست اوناروغ شاه محمود ئې لهمنځه لری کړی له دې وروسته چه شا اشرف دچارو واګی پهلاس کښې و نیول دی هم دې ته مجبورشو چه له داخلی او خارجی قوی د ښمنانو سره لکه شاه محمود مقابل شی، تهماسب مرزا د شخصی مقصدو دسرته رسولو لپاره دخپل وطن ایران دلځمکی د خپلواکیړ اوتمامیت دپاره قیمار واهه،ده دروسیې لهدولتسره خبرې اترې شروع کړی وی چه که پطر کبیر له پارس نه دافغانانو په ایستلو کښې کوشش وکړې تهماسب دې ته حاضردی چه د شیروان داغستان، ګیلان ، مازندران او داستراباد و لایتونه روسیې ته ورکړی . لهبلی خوا دترکودولت دایران دیوې برخې دنیولو لپاره لهخبرو اترونه وروسته دروسیی له دولت سره یوترون وکړ اوپدې شرط چه دتبریز، همدان اوکرمانشاه ولایتونه دعثمانی دولت ملکیت شی دروس مالکیتئې دتهماسب په موعود و لځمکو تصدیق کړ . تهماسب هم په مازندران کښې دلښکرو پهغونډولولاس پورې کړیؤ، شاه اشرف دیبیمثاله تدبیر اوزړور توب پهاثر دخپل قلمرو دساتلو لپاره و خوځید اولکه چه دافغان لښکرو پخوا لا دایران پهبندر کښې دروس مخه نیولی وه . شا، اشرف عثمانی ترکانوته هم پدا سې حال کښې چه همدان، ایروان اوتبریز ئې نیولی ؤو پهسخته جګړه کښې مانی ورکړه .

نودترکیې دولتدې ته اړشو چه دفارس دافغانی دولتپه خپلواکیاعترافوکړی.پدغهوخت کښېوارویدلشو چهدخراسان د خلکو نه ( نادرقلی ) نومی یوسړی عسکر ټول اودتهماسب دسپه سالار په حیث د توس دولایت د نیولو له پاره خوځیدلی دی ،که‌دنادر قلی دلاسه شوې وی ملکمحمود خان سیستانی چه دافغانی دولت لهخوا حمایه کیدی لهمنځهیوسی دشاه اشرف دجبهې شاته خطر پیدا کیدی اودافغانستان د مواصلاتو خطوط شلیدل، نوشاهاشرف ددغهډول‌پېښې دمخ‌نیوی له پاره دعسکرو په ترتیب لګیاشوشاهاشرف په ۱۱۴۰ هجری کښې دترکیې لهدولت سره لهترون نه فارغ شوی و چه دنادر قلی سوقیات له شرق نه دغرب خواته شروع شول اوپه ۱۱۴۱ هجری کال

کښې ددواړو خوا ؤ ترمنځ ددامغان په ( مهمان دوست) نومی ځای کښې سخته جګړه ونښته خو (افغانی) لښکرې د جګړې په نتیجه کښې طهران ته ترشاشوې اوله هغه ځایه اصفهان ته ولاړی له‌دی کبله دنادر لښکری داصفهان خواته وخو ځیدې اوشاه اشرف د اصفهان په (مورچه خوات) کښې مدا فعې ته را وړاندی شو خوهرکله چه هغه نتیجه چه ده غو ښتله لاس ته رانه‌غله نو بیرته اصفهان ته را غبرګ شو اوله هغه ځایه دعسکرو دتجهیزاتو دسمولو له امله شیرازته لاړ، شاه اشرف لادارډو په ترتیب نه ؤ بریالی‌شوی اوافغانی لښکرې د ایران په ولایتو کښې خپرې وړې وې چه طهماسب له خپلو لښکرو سره شیرازته وخوځید دریمه جګړه په رزقان کښې (د شیراز اواستخر ترمنځ) ونښتله دلته بخت له دښمن سره یاری وکړه اوشاه اشرف‌دې ته‌اړشو چه‌دیوه خالص‌افغانی اردو د برابرولو له‌پاره دافغانستان خوا ته‌وخوځیدی ، مګرله‌بده مرغه دداخلی نفاق‌ناروغی لا دپښتنی دولت له‌منځه نه وه‌ور که‌شوی ځکه شاه‌حسین‌خان هوتک‌دقندهار دولایت نائب الحکومه دشاه‌محمود دکسات اخیستلو په نامه، خپل‌مجهز سواره د شاه اشر ف مخې ته واواستول اودی ئی ناڅاپه‌دقندهار په‌شاوخوا کښې له منځه یو ؤړ اوپه‌دې‌ترتیب‌سره ئې‌په۱۱٤۲هـ کی‌دفارس‌په‌مملکت کښې افغانی دولت پای ته ورسا ؤ، له دې وروسته شاه حسین خان د(شاه‌حسین) په عنوان په قندهار کښې خپل سلطنت اعلان اودخراسانی ترکمن نادرشاه دجګړو تروخت (۱۱۵۱ هجری) پورې‌ئې خپلې حکمرانې‌ته دوام ورکړ خوباید وویل‌شی‌چه‌دده دغه‌حکمرانی دقندهار په‌ولایت‌پورې منحصره وه په هرحال دافغانستان هوتکی‌دولت دافغانستان دتیموری دولت له انقراض نه‌وروسته لومړی حسابی‌دولت‌دی چه په قندهار کښې تشکیل اودغزنوی سترې‌تولواکی‌ړ له‌وخته‌څخه‌وروسته‌ئې‌دایران مملکت بیرته نیولی‌دی، که‌څه‌هم دهوتکو دولت په داخل کښې دټول افغانستان دسیاسی اداری په‌یووالی نه‌دی بریالی شوی اودوی ټول ډیردقندهار دپای‌تخت په‌تحکیم اودایران دمملکت په‌نیولو لګیاوو خوورروسته تردوی‌داچاره افغانی‌دولتوته د خپلواکی‌ړ غوښتلو اود نوې افغانی‌ړ یوې امپرا توری‌ړ د تشکیل له پاره یوغټ سرمشق ګنهل کیږی .میرویس‌خان د دغی کورنی موسس‌مدبر اووطن دوسته سړی اوبې شکه د پاچاهی‌ړ وړؤ شاه‌محمود اوشاه‌اشرف‌هم‌دواړه افغانی‌نومیالی اوفاتح کسان‌وو په‌دوی کښې یوالخی‌شاه‌حسین عیاش، شاعر او مبتدی ؤ چه وئې نه‌شوی کولی‌چه دخپلو اسلافو ځای ونیسی او وئې ساتی .

د افغانستان هوتکی پا چاهان :

| | | |
|---|---|---|
| میرویس‌خان | ۱۱۲۱ | ۱۱۳۰ |
| میرعبدالله | ۱۱۳۰ | ۱۱۳۱ |
| شاه‌محمود | ۱۱۳۱ | ۱۱۳۷ |
| شاه اشرف | ۱۱۳۷ | ۱۱٤۲ |
| شاه‌حسین | ۱۱٤۲ | ۱۱۵۱ |

دهرات ابدالی‌حکومت: په‌نهمه‌هجری پیړۍ کښې دافغانستان دتیموری‌دولت په‌وخت کښې دمملکت‌په‌ځینو منطقو کښې‌محلی کمکی دولتونه موجودوو چه دهغه دولت دکمزورۍ اوفتور له‌املهدغو هریوه ځان‌خپلواکی کړیؤ لکه د قندهار ارغونیه امراؤ اودغلجائی قلات توخیو ، اوهوتکو محلی امیرانو دارغستان‌ابدالی امیرانو . دقندهار ارغونیه امراؤ دامیر ارغون‌دنائب‌الحکومګۍ‌ړ له‌وخته‌راهسی،چه‌نوموړی‌دامیرذوالنون اتالیق شهزاده بدیع الزمان بن‌سلطان حسین‌بایقرا زوی دی، په۸۸٤ هجری‌کال کښې دقندهار دمحلی‌حکومت اساس کښېښود اوتر۹۱۳ هجری‌کال‌پورې‌ئې دوام‌وکړ د دغه لړ امیرانو لکه امیرارغون، مرزامقیم ، شجاع خان مرزاحسین ، مرزاعیسی مرزاباقی،مرزاجانی، اومحمودنه یوالخی دقندهار په‌ولایت کښې بلکه‌ځینوئی دسند‌په‌ولایت کښې‌هم حکومت کړی دی اوپه پای کښې دغوامیرانو د قندهار په ولایت کښې دمشهور بابر پا چا په‌لاس‌په۹۱۳هجری‌کال اودسند‌په‌ولایت کښې د اکبرجلال‌الدین دهندډپاچا په‌لاس په ۹۸٤هجری کال کښې سقوط وکړ د توخیو امیرانوهم په‌همدغه نهمه پیړۍ دغلجائی قلات په منطقه کښې لیاخیل محلی حکومت‌محکم کړیؤ اوتریولسمې هجرې‌پیړۍ پورې‌ئی‌لکه‌ملخی‌خان، ابدال‌خان دتوخیوله تیرځخه اودهوتک له عشرې نه‌ملکیار، حسین خان اونوروهم خپل‌حکومت‌ته‌دوام ورکړی دی اوتل ئې دغزنی او زابلستان له‌خوا دهند دبابری دولت دنفوذ دبسط اود قندهار له خوا دفارس دصفوی دولت په مقابل کښې تینګار کاو او ځانونه ئې ساتل په‌پای کښې میرویس‌خان دهوتک شاه علم‌خان زوی چه په همدغه لړ پورې اړه‌لری قندهارته نجات ورکړ اوله‌صفویانو څخه ئې‌ځان خپل واکی‌کړ .همدغه رنګه دارغستان ابدالی امراؤ په‌نهمه هجری پیړۍ کښې‌خپل محلی‌حکومت‌تینګ کړاوددغه سلسلی وروستیو کسانو په‌قندهار کښې دصفوی‌دولت له‌عمالوسره لیاخیل روابط ساتل اوپه یولسمه پیړۍ کښې داسلسله ګرګین د قندهار صفوی نائب‌الحکومه‌و شلوله ددغه لړ محلی امیران عبارت‌دی اه‌سدوخان ، خضرخان، خداداد سلطان شیر خان ، سرمست‌خان حیات سلطان، دولت‌خان. بیاهم عبدالله‌خان دحیات سلطان‌زوی په همدې سلسلې پورې اړه لری چه‌په یولسمه هجری پیړۍ کښې‌ئې دهرات په ولایت کښې د خپلواکۍ‌ړ بیرغ اوچت کړ اودصفوی‌دولت نائب‌الحکومه او نظامی قوماندان‌ئې دهغه‌دولت له‌ساخلو عسکروسره دیوه ملی هیجان د طوفان په ترڅ کښې

محوه کړ اود میرویس خان هوتک په شان ئې دهرات دولایت خپلواکی اعلان کړه ، له هغه ورو سته دغې سلسلی دهرات په‌ولایت کښې تر١١٤٤هجری کال پورې خپل حکومت ته دوام ورکړ اودطوس دولایت دخلاصولو له پاره‌ئې دصفوی امراؤ په مقابل کښې دمشهد تربناره پورې سوقیات و کړل د قندهار هوتکی‌دولت سره له‌دې چه‌دفراه دلاس‌ته راوستلویه‌باره کښې دهرات له‌ابدالی حکومت‌سره په‌جګړه لګیاؤ اوپه‌نتیجه کښې فاتح‌هم شوخونورئې غرض په ونه کړ ځکه دوی دامهال دغه محلی کمکی حکومت دایران دصفوی دولت د نفوذ اوتسلط په‌مقابل کښې یوبل سدګانه اوهمدا سیاست ؤ چه شاه محمود اوشاه اشرف غوندی مقتدرو اوفاتحوهوتکی پاچاهانو دطوس په‌ولایت کښې دیوه بل محلی حکومت دتشکیل په باره کښې له‌سیستانی افغان ملک محمودخان‌سره هم ضدیت او مخالفت و نکړ بلکه حمایه‌ئی هم کوله په هرحال له دې ورو سته چه دفارس افغانی دولت منقرض شو اوخراسانی نادرشاه د بریدِ اوحملوفرصت وموندی دهرات‌ابدالی حکومت‌دقندهاردهو تکی حکومت په‌شان له منځه‌لاړ .

دهرات ابدالی امرأ :

| | |
|---|---|
| عبدالله خان دحیات سلطان زوی په ١١٢٩ | هجری |
| زمان خان د دولت خان زوی په١١٢٣ | « |
| محمدخان دعبدالله خان زوی په ١١٣٥ | « |
| ذوالفقارخان دزمان‌خان روی په ١١٣٦ | « |
| الله یارخان دعبدالله خان‌زوی په | ١١٣٨هجری |
| ذوالفقار (بیا) | ١١٤٢ « |
| الله‌یار (بیا) | په ١١٤٣ - ١١٤٤ « |

خراسانی نادرشاه : نادرقلی دامام‌قلی زوی اود خراسان (افغانستان)ؤ په‌ابیورد کښې زیږیدلی‌اوپه‌مالداری او په‌پوستین ګنډلو ئې ګذاره کوله ، از بکودی دزلمیتوب په‌سن په‌تاړاکو کښې له‌ځان سره بوت اودی چه بیرته وطن ته‌راغی دابیورد له محلی حاکم‌سره نوکرشو ، دحاکم له‌مرګه وروسته ملک‌محمود سیستانی دطوس‌دولایت خپلواکی حکمران دابیورد په حکومت مقرر کړ ، نادر په‌هغه جګړه کښې ډیرشهرت وموند چه‌دملک محمود دنظامی افسر په‌حیثیت ئې دده ازبکی مهاجمو د ښمنانوته ماتې ورکړه خولښ موده وروسته ملک محمود د ښمنی ورسره راواخیستله نوځکه نادر و تښتیده وله خپلو خوتنو ملګرو سره به‌ئې لاره نیوله وغلاوې‌به‌ئې کولې ، ووروسته‌ئې دفلات په‌قلا حمله‌وکړه‌اوهغه‌ئې ونیوله نادرله‌دې وروسته قوی‌شو اودنیشاپور په‌ښار ئې‌حمله وکړه اوهغه‌ئې ونیو اوله‌ځان‌ئې دصفوی‌طهماسب‌یو ملګری وښود نادر پدغو پیشرفتو باندې ا کتفا و نکړه ځکه ده‌سترې‌ادعا درلوده‌اوسترسړی هم‌ؤ له‌دې کبله‌ده،دطوس‌دولایت دنیولو اوملك محمود ته‌دماتی ورکولو له‌پاره د مشهد په ښار حمله وکړه په‌دی یرغل کښې هغه‌څه چه‌دده زړه غو ښتل لاس‌ته ورغلل اوصفوی طهماسب ده‌ته دسپه سالاری منصب ورکړیا نادر ، دشاه اشرف له‌مکررو جګړو اوافغانستان ته‌دده دراتلو نه‌وروسته دترکو لښکروته په‌همدان کښې ماتې ورکړه عراق اوآذربایجان ئې مستر داوطهماسب ئې هم خلع اوده د زوی (عباس) په‌نامه ئې دفارس ددولت واګی پخپل لاس کښې‌ونیول په‌دی ترڅ کښې‌نادر په‌مکرروجګړو کښې‌ترکانو ته‌ماتې‌ورکړه اودفارس ټولې له‌لاسه وتلې ځمکې‌ئې بیرته مستردې کړې‌اود خبرو اترو اودمعاهدې‌په‌واسطه‌ئی دخزر،باکو اودربند سواحل دروس له‌دولت نه‌بیرته‌واخیسنل ،نادر په١١٤٨ هجری کال کښې رسماً جغه په‌سر کښوده اودتسنن مذهب‌ئې چه‌دده ملی مذهب ؤ دفارس په‌مملکت کښې رسمی‌مقرر کړ ، نادر شاه لاپخوا په ١١٤٤ هجری‌کال‌دهرات ښار او ولایت دیوی‌سلسلی جګړو او سختو ماتیونه‌وروسته‌دابدالی‌محلی‌حکمدارانو له‌لاس‌څخه‌وئیست اوپه ١١٥٠ کال کښې‌ئې‌دبلخ ولایت هم دخپل‌زور زوی‌رضاقلی دسوقیاتو په‌واسطه دماورأ النهر دازبکانو له‌تسلطه څخه‌مسترد کړ اوده پخپله له یوکال جګړې نه وروسته دقند هار ښار له شاه حسین هوتک نه‌ونیو خوله بده‌مرغه ږنګ‌ئې هم کړ. بیاپه ١١٥١ هجری‌کال کښې‌دکابل له‌لارې دهندوستان مملکت ته ورننوت اوترډیلی پورې وراندې ولاړ هوری محمد شاه هندی ټولواك ده‌ته‌ځان تسلیم کړ ، اوخپلې بیشماره خزانې ئې چه «تخت طاوس» اودکوه‌نورالماس هم په هغه‌جمله کښې وو ، ده‌ته وسپارلی نادرشاه دهند له‌نیولو څخه وروسته بیرته افغا نستان ته‌راغی اودماوراء النهر دنیولوله‌پاره له‌جیحون نه‌تېر شو،دلته دازبکو امیر پرته له تسلیم نه‌بله چاره نه درلوده نادرشاه دده لور خپل زوی‌ته‌ورکړه اودخوارزم ولایت ته‌وخلېد هغه‌مهال چه‌د خوارزم تورانی حکمران‌ووژل‌شواودغه ولایت بیانادرشاه په‌قلمرو پورې وټرل شو ، په‌دې ترتیب سره خراسانی نادرشاه په څوکلو کښې‌دافغانستان ، ماورأالنهر فارس اودهند وستان‌له مملکتونه یوستر دولت‌تشکیل کړ اودمشهدښارئې‌خپل‌پای‌تخت وګرزاوو ، خراسانی نادر شاه پوه او دقوی عزام خاوند اود خراسان یو تاریخی مشهور سړی دی نادر دهرات او قند هار دنیولونه وروسته‌په‌مینه اومدار سره دخراسان دخلکودهمدردی اومحبت حس‌جلب اویو شپالس زره کسیز ار دوئې دافغانستان له ابدالی‌اوغلجائې طائفونه تشکیل کړ اوپخپلولښکرو کښې‌ئې دوی ته‌لومړی مقام‌ورکړ ، دافغانستان‌سرداران هم‌دده دنظامی منصبدارانو اوملکی حکامو په‌حیث‌په‌کار کښې‌داخل‌شول، له‌هغې جملې څخه ابدالی احمدخان (احمد شاه بابا) اونور محمد خان میرافغان اونوردی افغانی مشران اولښکرې هم د نادرشاه په

ټولو جګړو اوفتوحاتو کښې شریکې وې دنادرله مرګ نه وروسته ئې دده حرم دایران دعسکرو دلوټ کولو څخه وساته او دده د زامنو څخه ئې هم دایران دخلکو په مقابل کښې مد افعه وکړه نادرشاه دایران د قزلباشو له عسکرو اومشرانو سره ښه رو یه ټکوله اوښه ئې نه اسیدل اواعتمادئې ورباندې نه درلود ، په ټپره بیاله هغه وخته چه دیوه سؤتفاهم په اثر ئې خپل مشر زوی رضاقلی میرزا پوند کړله پښېمانی څخه وروسته عصبی شوی ؤ په پای کښې دفارس ملت دنادرشاه دوروستی عمرله ظلم او خشو نت څخه ډیر په تنګ شو اوله دې کبله ئې په شیروان ، تبریز او ستراباد کښې یوپه بل دپسی په شورش لاس پوری کړ اوپه پای کښې د قزلباشو قجرو اوافشارو اویاؤتنو منصبدارانو په ١١٦٠ هجری کال کښې دقوچان په شاوخوا کښې دی وواژه او په دې صورت سره دده لویه امپراطوری ټوکر ټوکر شوه .

دافغانستال ابدالی دولت: دنادرشاه له مرګ نه وروسته افغانی لښکری اومشران دطوس له ولایت نه دقندهار ولایت ته راغلل اودنادرآباد په قلا کښې ئې جرګه سره وکړه او دپاچا په تاکلو ئې شروع وکړه په نتیجه کښې ابدالی احمد خان د زمان خان دهرات دولایت دپښتانی حکمدار زوی چه په افغانی اردو کښې له نادر شاه سره معتبر منصبدار ؤ د ١١٦٠ هجری کال په شوال کښې دافغانستان پاچا وتاکل شو ، احمدشاه چه وروسته بیاد ملت له خوا دهغو ښووخدمتو په سبب چه ده کړی ؤ (احمدشاه بابا) وبلل شو په ١١٣٥ هجری کال کښې دهرات په ښار کښې زیږید لی دی اوپه دغه وخت کښې ٢٥ کلنی و اوتر ١١٨٦ هجری کال پوری ئې خپلې پاچاهی ته دوام ور کړ احمد شاه بابا یولائق سیاسی اونظامی سړی ؤ او د خپل پنځه ؤ یشت کلن سلطنت په موده کښې ئې دافغانستان له پاره مهم خدمتونه وکړل ده د دولت اواردوله تشکیل نه وروسته لومړی دافغانستان طبعی ټولولایتونه لکه قطغن، بدخشان، بلخ، میمنه، مرو، مرغاب ، توس نیشاپور د (خراسان اوسنی ولایت) سیستان، کرمان، بلوچستان سند، کشمیر، چترال، کابل، غور، پښور او پنجاب دیوه اداری مرکز تابع کړل او وروسته بیا د شمال د ولایتو د ساتلو له املې یوځل دجیحون له رودنه او دسند دحوزې دساتلو له پاره څوځلی دستلج له رودنه تیر شو او په ټولو جګړو کښې فاتح هم ؤ، خو دپانی پت جګړه په ١١٧٤ هجری کال کښې دمرتیانو له نیم میلون لښکرو سره داحمدشاه په خارجی جګړو کښې ډیر مشهوره جګړه ده چه دی ئې د افغانستان اوهند په تاریخ کښې قهرمان په صفت ثبت کړ او همدغه رنګه احمدشاه دافغانستان د وزارتو دملکی او نظامی څانګو اساس اودملکی تشکیلاتو بنسټ په ډیر صحیح صورت سره کښېود او لومړی ځل ئې دتل له پاره دستروملی مشرانو نه یوه جرګه تشکیل کړه ، احمدشاه بابا په عدالت سره چلیدی او داخلی نفاقونه او د قبیلو تر منځ د عصبیتو دلری کولو له پاره ئې کوشش وکړ، کوم وخت چه احمدشاه بابا مړشو یو قوی او ستراوله نفوسو ډک افغانستان ئې پرېښود که څه هم داقتصاد، کرهنی، صنعت او د علومو په چاور کښې افغانستان بیرته پاتی ؤاود شومو پېښواود څو سړیو له جګړو نه ئې ډیر تاوان ګاللی و . له احمد شابابا څخه وروسته دافغانستان سلطنت دده اولادته ورسېد ددغې کورنۍ دحکمرانی موده یوه پیړۍ اوږده شوه خوپه دغه موده کښې د افغانستان دپاره نور مهم خدمتونه ونه کړل شو ځکه له یوې خوا داسی څوک نه ؤ چه ددنیا نوی تمدن په افغانستان کښې داخل کړی اوله بلې خوا دغرب استعماری سیاست د افغا نستان په شرق او شمال کښې مخ په وړاندی راته اودیپلوماسی انتریکو د داخلی اوخارجی جګړواو داوږ دواغتشاشاتو جوړول نتیجه ور کوله ، اوله افغانی دولتو څخه ئې داجتماعی ترقیو فرصت سلباؤ په هرحال تیمورشاه داحمدشاه بابا زوی دافغانستان دسلطنت دچارو واګی دوه ویشت کاله په لاس کښې ونیول اوپه دغه موده کښې پله دې چه دافغانستان له پاره دکوم ستر خدمت مصدر شوی وای یوالځی دافغا نستان جغرا فی سیاسی حدود ئی د پنجاب د متمر دینو د جګړو او د تورانیو د تېریو په مقابل کښې وساتل زمانشاه دتیمورشاه زوی چه دافغا نستان پاچاشو د هندد پراخې خاورې دنیولو خیال ئې در لود اودهمدې مطلب لپاره ئې یو قوی اردو جوړ کړ خوله یوې خوا په شاهی کورنۍ کښې داخلی نفاق ولوید اوله بلې خوا دانګلستان د دولت د هند سا تلو پا لیسی او دافغانستان په ګاونډیو مملکتو کښې، لکه روسیه او ایران، دناپلیون کبیر داستیلا سیاست اغیزه وکړه او افغانستان د بیلو بیلوسیاسی عملیاتو ډ ګرشو .

دفارس دولت شهزاده محمود افغان دزمانشاه په ضد ولمساؤ اوتقویه ئې کړ اوپه نتیجه کښې زمانشاه بندی او ړوند کړشو، پد ې ډول هغه مهال سمد ستی هند د حملی نه و ساتل شو او شاه محمود دافغانستان په تخت کښېناست اوپه عوض کښې ئې دتوس ولایت داوسنی افغانستان نه بیل او دفارس په دولت پورې وتړل شو دپنجاب ولایت دسکانو دټولګیو تر قیادت لاندی له افغانستان نه بیل او خپلواکی شو نو په دې ترتیب سره افغانسنان وروړرو مخ په تجزیه اوځوړروان اودمروې اود کشک دناوې او بلوچستان دولایتونه یوپه بل پسې له افغانستان نه بیل اودخیوی، بخارا او بلو چستان د خانانو په لاس ورزغلل ، په پای کښې دروسیې او انګلستان ددولتو په تصرف کښې شول . دشاه شجاع د تیمورشاه دزوی او داحمدشاه بابا دلمسی د دولت په وخت کښې دخارجی دولتو په لمسون دکورنیو جګړو اوروانګېد اودهمه په اثر له یوې خوا د افغا نستان او انګلیس لو مړۍ جګړه او له بلې خوا د افغا نستان او ایران تر منځ څو جګړې وشوې او د لاهور

د١٢٥٤ هـ ١٨٣٨ م او دقند هار ١٢٥٥هـ ١٨٣٩ م معاهدو په نتيجه کښې چه‌شاه‌شجاع او انګليسانو سره وکړې سر بېره د افغانستان د سياسي استقلال د سلبيدو د سند ، ملتان ، کشمير، پېښور ، اټک ددېره جاتو ولايتونه هم په شرق کښې له افغانستان نه بيل شول نو په‌عوض کښې ئې کمکي افغانستان دافغان اوانګليس په‌لومړۍ جګړه کښې غالب اودملت له خوا دافغانستان ابدالي دولت ته سقوط ورکړي‌شو ، په‌همدې جګړه کښې نواب محمد زمان ،شجاع الدوله خان ، وزير اکبر خان، محمدعثمان خان تګابی ،نائب‌امين‌الله‌خان لوګری ، محمدشاه بابکرخيل اوغلېچي ملامومن اونورو په‌تاريخ کښې د افغانستان دملي قهرمانانو صفت‌وګاتو .

د افغانستان ابدالي پاچاهان :

احمدشابابا له١١٦٠نه‌تر١١٨٦ هجري‌کال پوري‌پاچاهي کړېده
تيمورشاه له ١١٨٦ نه‌تر ١٢٠٧ « « «
زمانشاه له ١٢٠٧ نه‌تر ١٢١٦ « « «
شاه‌محمود له١٢١٦ نه‌تر ١٢١٩ « « «
شاشجاع له ١٢١٩ نه‌تر ١٢٢٣ « « «
بياشامحمود له١٢٢٣ نه‌تر١٢٣٣ « « «
اوله١٢٣٣نه‌تر ١٢٥٥کال پوری دانقلاب دوره وه
بياشاه‌شجاع له١٢٥٥نه‌تر١٢٥٨هجري‌کال پوري‌پاچاهي کړېده

دافغانستان دمحمد زيو دولت:دابدالي زمانشاه‌له ږنديدلونه

و روسته په ابدالي سلطنتي کورنۍ کښې فتور پېښ شو او شاه محمود د مملکت په اداره او تنظيم کښې عاجز شو دبارکزيو مشران چه د دولت وزارت او دايالاتو حکومتونه ئې په‌لاس کښې‌وو‌په‌دې‌صدد کښې شول چه‌دافغانستان سلطنت لاس ته راوړي په تېره بياهغه وخت چه شهزاده کامران دشاه‌محمود زوی بارکزيء وزير فتح‌خان‌لومړی پوند اوبيائې مړ کړ ددغه‌وزير خوتنوورونو شاه محمود په١٢٣٣ کال کښې دهرات دولايت خواته فراری کړ اوودده ورور شاه شجاع ئې دسند دښکارپورشاته وواهه‌ابدالي شهزاده ايوب‌دتيمورشاه‌زوی چه د پلار په‌ځای د کيناستلو دعوه کوله دې ته‌اړ شوچه له حکمرانۍ نه‌لاس واخلی يوالحی‌شاه‌محمود دهرات په‌ولايت کښې په‌وړه پاچائی قناعت وکړ چه له‌ده و روسته دده زوی کامران اووزير ئې يارمحمدخان الکوزائی او سعيد محمد خان ددغه وزيرزوی اوشهزاده يوسف‌ابدالی دغه کمکی حکومت ته څه ناڅه ځلوښت‌کاله‌دوام‌ورکړ، بدغه موده کښې له دغه کمکی حکومت سره دفارس ددولت مشهوري جګړې و نښتې اوپه پای کښې فارسيان‌مات اوناکام‌شول ، په١٢٧٣ کال کښې بارکزئی سردار سلطان احمد خان دهرات په‌حکومت مسلط اوپه ١٢٧٩ کال کښې ددەزوی شهنواز ددەځای ونيو خوزر په‌همدې کال کښې امير دوست‌محمدخان دافغانستان دبارکزيو لومړی پاچادهرات ولايت د افغانستان جزکړ اودمحمدزيو ددولت سلسله‌ئې‌په‌پښو ودروله ، په‌هرحال دافغانستان له‌داخلی اغتشاش اود ابد الی دسلطنتی کورنۍ دچارو له‌فتو رنه وروسته دمملکت دچارو واګی‌دمقتول وزيرفتح خان ورونو په‌لاس کښې ونيول په‌دغو ورونو کښې سردارمحمدعظيم‌خان‌اوسردار شيردل خان مشهور دی چه‌افغانستان ئې ډير دملوك الطوائفۍ‌په‌ډول دخپلو نورو ورونو په‌واسطه اداره کاوه چه‌له‌هغې جملې نه‌دوست محمدخان دکابل حاکم اوپردل‌خان دقندهار حاکم اونورو و . دوزير فتح‌خان دورونو دتسلط په‌دوره کښې چه‌دسردار پاينده‌خان دابدالی‌دولت ديوه مامور اولاده وه اوورو سته بيادمحمد زيو په کورنۍ‌مشهورشول دافغانستان دادارې طرز ملوك‌الطوائفی شو او لکه‌چه‌دتوس‌ولايت ياواوسنی خراسان اود پنجاب‌ولايت پخوا دابدالی شاه‌محمودپه‌وخت کښې له‌افغانستان نه بيل‌شوی‌وو پدغه وخت کښې دسندولايت ددغه ولايت دميرانو په‌قيادت دخپلواکۍ اعلان وکړ اوپه (١٢٤٣ - ١٢٤٤ هجری کښې ) دپېښور ،اټک اوکشمير ولايتونه له افغانستان نه‌بيل اود پنجاب دسکانو په‌دولت پورې ضميمه شول په ١٢٥٤ هجری کال کښې دوزير فتح‌خان ورونو له‌خپلې جملې يوتن‌دپاتې افغانستان‌دامير په‌عنوان وپيژاند اوداهماغه‌اميردوست محمد خان دی چه‌په امير کبير سره مشهور وو ، اويوالحې يوکال ئې وکولی شوی چه خپل امارت ته‌دوام ورکړی خوپه مخنکې کال کښې (١٢٥٥هـ) دانګليس دولت فراری‌شاه شجاع‌له‌يوځه لښکرو اومنصبدارانو سره دافغانستان دتاج اوتخت دنيولو له‌پاره دقندهار دمعاهدو په واسطه را واستاوو مګر پخوائې دلاهور اوقندهار دمعاهدو په واسطه دافغانستان دشرقی ولاتو په‌تجزيه چه‌دوزيرفتح‌خان دورونو په دوره کښې له‌افغانستان څخه‌مجزا شوی‌وو په رسمی اوقطعی‌ډول سره له‌شاه شجاع څخه اعتراف واخيست په هر حال د امير دوست‌محمدخان ورونو دانګليس اوشاه‌شجاع دلښکرو په‌مقابل کښې په‌قندهار اواميردوست محمدخان په‌کابل کښې بې‌له‌جګړې څخه تېښته وکړه اودافغانستان دولت په‌ظاهر کښې شاه شجاع اوپه‌باطن کښې‌دانګليسی‌افسرته‌په‌لاس‌ورغی،اميردوست‌محمدخان چه‌بخاراته تښتيدلی‌وو په١٢٥٦ هجری کال بيرته کابل ته راغی اوانګريزانوته‌تسليم‌اوهندته تبعيدشو،خود انګليس اوشاه‌شجاع تسلط دوام ونکړ د ملی هيجانو طوفان شروع شو شاه‌شجاع ووژل شو اودانګريز اردو له‌ډيرو تلفاتو ورکولو نه وروسته دافغانستان دخاوری و خوشی کولو ته‌اړ شو دا مهال امير دوست محمد خان هم‌له‌هند څخه‌بيرته افغانستان ته‌راغی دلته‌بيا امير دوست‌محمدخان د خپل‌زوی وزير محمد اکبرخان له‌خوابيا دافغانستان په‌پاچاهی ومنل‌شو او دافغانستان نورو مشرانو هم

دوزیر محمد اکبرخان دخدمتو دمراعات لهامله مخالفت ونه کړ اوپه عوض کښې ئې امیردوست محمدخان دجمرود له معاهدو سره سم چه د انګلیس هند له دولت سره ئې په (١٢٥٨ - ١٢٧١ هجری) کښې وکړې دشاه شجاع دلاهور اوقندهار دمعاهدو متن ئې ومانه اود افغانستان دمملکت دحقوقو څخه تېرشوامیردوست محمدخان بیادمملکت دادارې په طرز کښې دهم هغه ملوك الطوائفی اسلوب رعایت وکړ ، او ولایتونه ئې مالیو سره پرخپله کورنۍ وویشل یواځې دده ستر کاردهرات دولایت دخپلواکی حکومت له منځه وړل ؤ تردغه وخته پوری افغانستان پرله پسی مخ په ځوړروان ؤ امیر شیرعلی خان دامیر دوست محمدخان جانشین چه یو منور سړی ؤ ، وئې غوښتل چه افغان اردو تقو یه کړی اود ښوونځیو اومنظمو ادارو په تاسیس مملکت له ترقۍ او نوی تمدن سره آشنا کړی ځکه ده پخپل دربار کښې سید جمال الدین غوندې سړی لیدلی ؤ ، امیرشیرعلی خان د اجتماعی تحولاتو په لاره کښې نوی قدم اینبی ؤ اوده دافغانستان خپلواکی ئې اعلام کړې وه له دې کبله دانګلیس دولت د روسیې له دولت سره دده له سیاسی ارتباط څخه بدیو وړل اود افغان اوانګلیس دو همه جګړه ئې په ١٢٩٦ هجری کال شروع کړه، که څه هم په دغه جګړه کښې دانګلیس لښکرې تر کابل پورې راورسېدې او امیر شیرعلی خان بلخ ته وتښتیداوهلته مړشو خو دافغانستان ملی هیجان بیا شروع اودانګلیس لښکروته په کابل اومیوند کښې درانده تلفات ورواوښتل اوانګلیس دافغانستان پر ښو دلو ته اړشو او ملی سردارانو لکه جرنیل غازی محمد جان خان وردګ ، ملا دین محمد چه په اندړ ملامشك عالم مشهور ؤ ، او سردار محمد ایوب خان اونورو دافغانستان په نظامی تاریخ کښې له ویاړنی ډکه برخه واخیستله خوله بده مرغه دنفس دضعف په اثر امیر محمد یعقوب خان له انګلیسانو سره د ګندمك معاهده وکړه اووئې منله چه افغانستان دې دشالکوټ اوفوشنج علاقې د کوڅ تر غره اود کرمې علاقې دخیبر دره اولنډی کوتل د انګلیسی هند حکومت ته ورپرېښدی اونوردې سیاسی خپلواکی و نلری، امیرعبدالرحمن خان دامیرمحمدیعقوب خان جانشین نه یواځی داچه دانګلیس دډولت په مقابل کښې دافغانستان دسیاسی خپلواکۍ په سلبولو باندې اعتراف وکړی بلکه په ١٣١١ هجری کال کښې ئې دذیورند دمعاهدې له مخې دسوات، با جوړ ، چترال، ارنوی، وزیرو، داوړو ،چاکی اوچمن عـلاقې یعنی دمملکت دسرحدونو داوسپنې دیوالونه رسما انګلیس ته پرېښو دل او دپنجده علاقه د همدغه پاچا په وخت کښې روسانوتـه پـه لاس ورغله، نو په عوض کښې ئې امیرعبدالرحمن خـان دافغانی نورستان ولایت داسلام له دین سره آشنا اود دولت اداره ئې هلته ټینګه کړه ده دخپل توان په اندازه دادارې توحید په نامه اودملوك الطوائفی داصولو دلرې کولو له پاره دمملکت مشران بهرحمانه له منځه یو وړل اوقصداً ئې دهیڅ ډول نوی تمدن له منلو څخه انکار وکړ امیر حبیب الله خـان دده زوی مملکت دپلار د دورې پـه ډول اوحالت کښې اتلس کاله نورهم وساته، خو په یوشه ملایمت او نرمی سره، اودپخوانیو معا هدو اساسات ئـې هم د ١٢٢٣ هجری کال دمعاهدې په واسطه له انـګلیس سره ومنل په ١٣٣٧ هجری کال کښې امیر امان الله خـان د افغانستان خپلواکی اعلان کړه اودافغان اوانـګلیس په دریمه جګړه کښې بیا افغانستان بریالی اوغالب شو، خوددغې جګړې فاتح مارشال محمدنادرخان (نادرشاه شهید) دفتحی اوبریالیتوب افتخار وګـاتـه له دې وروسته دافغانستان تاریخ وګرځید نوی تمدن په مملکت کښې منل کیدی خوداسی پیښه منځ ته راغله چه له لسوکلو وروسته یوه ارتجاعی قوه دحبیب الله دسقاو دزوی په نامه د دولت لـه ناوړې اداري څخه استفاده وکړه اوحکومت ته ئې سقوط ور کړه دسقاو زوی په (١٣٠٧ هـ ش) کښې دخپلې پاچاهی اعلان کوی خوزر سپه سالار محمد نادر خان افغان اوانـګلیس په دریمه جګړه کښې دخپل فاتح یوه ملی قوه تشکیلوی او بیـا مملکت دتکامل خواته بیائی دمحمد نادرشاه په لحای ناست ( جانشین) دده زوی معظم ډولواك محمد ظاهرشـاه دی چـه تـر ورځ دافغانستان دترقۍ او تعالی په چارو بوخت او دغې ملی مرام او آرزو ته درسیدلو له پاره ډول عصری وساءیل لټوی .

افغانستان محمد زی پاچاهان :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| امیر دوست محمدخان په ١٢٥٩ هجری قمری کال کښې په تخت کښېناست | | | | |
| امیر شیرعلی خـان په ١٢٧٩ | « | « | « | « |
| امیرمحمدافضل خان په ١٢٨٣ | « | « | « | « |
| امیرمحمد اعظم خان په ١٢٨٤ | « | « | « | « |
| امیرشیرعلی خان (بیا) په ١٢٨٥ | « | « | « | « |
| امیرمحمدیعقوب خان په ١٢٩٦ | « | « | « | « |
| امیرعبدالرحمن خان په ١٢٩٧ | « | « | « | « |
| امیر حبیب الله خـان په ١٣١٩ | « | « | « | « |
| امیر امان الله خان په ١٣٣٧ | « | « | « | « |
| امیرمحمدنادرشاه غازی په ١٣٤٨ | « | « | « | « |
| امیرمحمد ظاهرشاه په ١٣٥٢ | « | « | « | « |

## ٦- دافغانستان معارف :

معارف یعنی د کمکیا نو تعلیم اوتربیه دامیرحبیب الله خان شهید دحکومت تروخته پورې رسمی صورت اوعصری شکل نه درلود لکن په غیررسمی ډول بې له اساسی عصری تشـکیلا تو څخه دمملکت په ټولو منطقو کښې تدریس، تعلیم اوتربیه متداوله وه اکـثرو مسجدو د مدرسو شکل درلود چه ډیر شـاګردان به په یوه تدریسی حلقه کښې په یـوه مشهور مدرس بـا نـدې

راغونډیدل اوتحصیل به ئې کاؤ ، په‌دغو مسجدو کښې مذهبی کتابونه لکه : فقه، اصول، حدیث، تفسیر، صرف، نحو ، پیر لوستل کېدل اوځینې ئې دمنطق او حکمت کتابونه ؤ او دفارسی کلاسیک کتابونه لکه دحافظ دیوان ، پنج گنج اودسعدی بوستان اوگلستان، دمولینا بلخی مثنوی ، دفردوسی شاهنامه اودنورو تعلیم کېده اوخط «لیکل» او مشاقی زده کوله کېدله، لکن دامیرحبیب‌الله خان په وخت کښې معارف په‌رسمی ډول سراوصورت ونیو . اودعصری ښوونځیو بنسټ کېښودل شو په‌دغه دوره کښې له‌یوې خوا د کورنیو (خانکی) اومسجدو، دمدرسو ډیرولوته پاملرنه و شوه اوله بلې خوا ځولومړنی ښوونځی دمولوی عبدالرب خان مرحوم په مدیریت اودوه عالی ښوونځی (دحبیبیې ښوونځی) ( دحربیه ښوونځی) په نامه په‌کابل کښې تاسیس شول، اویوبل ښوونځی چه د (ملکانو دځامنو ښوونځی) نومیده هم په‌دی وخت کښې تاسیس شو چه وروسته بیا دحربیه ښوونځی جزءشو داښونځی لومړی ( دوړو ضابطانو ) په‌نامه بلل کیده اوبیابیخی په حربیه ښوونځی کښې منحل‌شو، اویوبل ښوونځی د (ستاره دولت ) په نامه دمخابری په غرض تاسیس شو اودافغانستان د معارف لومړنی نظارت اوداداری‌اوتعلیمی چارونصاب په رسمی صورت رویکار شو اویو دارالتالیف هم تاسیس شو چه ( بیت‌العلوم مدرسه مبارکه حبیبیه) نومیده اویوشمیر تعلیمی اوغیر تعلیمی کتابونه دکتلوله‌پاره تالیف‌اوښوونکوته د استفادې له‌پاره تیارشول. دینی علوم لکه فقه، دینیات عربی احکام سره له‌عصری علومو لکه‌تاریخ، جغرافیه، ریاضی، مثلثات ، فزیك، کیمیا، جیولوجی بیالوجی، تشریح، هندسه، فارسی اوانګلیسی ژبه په دواړو ښوونځیو کښې، اوپه حربیه ښوونځی کښې دافغانستان عمومی تاریخ، هندسه جغرافیه، عسکری‌تربیه، انداخت او ځینو نورو عسکری فنونو تدریس کیده . پدغه دوره کښې د ابتدائی ښوونکوله پاره یوبل ښوونځی هم د (دارالمعلمین ) په نامه موجود ؤ چه غلام محی‌الدین خان‌افغان (په خانصاحب مشهور ) دهغه اهتمام کاوو .

په امانیه کښې : دمعارف ډګر ډیر پراخ شو او یوشمیر لومړنی ښوونځی په‌مرکز اودمملکت په نورو اطرافو کښې تاسیس اوپرانستل شول ، متخصصین دعلم او هنر خاوندان له خارج نه استخدام شول، په کابل کښې د پخوا نی حربیه او حبیبیې په ښو و نځیو سر بېره نورعالی ښوونځی دامانیه په‌نامه دفرانسوی ښوونکو ترکښې لاندې اوامانی ښوونځی دجرمنی ښوونکیو ترکښې لاندې دعالی تعلیماتو اودخارجی ژبی د زده کړې له‌پاره تاسیس‌شول اویوشمیر شاګردان دتحصیل له‌پاره فرانسی ، جرمنی ترکیئی اونور ځایونه ولیږل شول په دې وخت کښې نورښوونځی هم تاسیس شول لکه دارالمعلمین حکام، اصول دفتری ، قضات، مساحت اودښپښې جوړولو، اوسمنټو جوړولو ښونځی ، چه دغو دوو وروستیو ښوونځیوڅخه دکورسو ماهیت‌درلود،اودرسامی اوآرت په نامه هم یو ښوونځی پرانستل شو چه په هغه کښې دمستظرفه صنایعو په‌تبره بیا درسم څه یه کېده . په دغه دوه کښې دغازی په‌نامه یوبل ښوونځی‌هم پرانستل‌شو، چه تراوسه د (غازی لیسې) په‌نامه شته . دښځو تعلیم ته هم ښه توجه وشوه ځکه چه په مرکز کښې دمستوراتو د ښوونځی په‌نامه یوښوونځی پرانستل شو، اویوشمیر کم سنه نجونی ، اوپغلې دلوړو تحصیلاتو په غرض ترکیې ته و لیږلی شوې حتی په‌اخر کښې چه یوشمیر وړې نجونی دامانیې په ښوونځی کښې له‌هغو کمکیو هلکانو سره یوځای شوې چه دهغوی عمر هم دهغو وړونجونو، په‌اندازه ؤ ، دښار په مسجدو کښې هم داکابرو کورسونه جوړشول‌چه د(صوت غازی) په‌نامه مشهورو اوتدریس پکې کېده، تردې حده پوری چه د هغه وخت پاچا هم په دغو کورسو کښې د تدریس عهده درلوده او پخپله ئې دهغو وارسی کوله د دغی دورې‌په‌پای کښې څرنګه چه‌په‌مرکز کښې منځنی دورې خپل‌مراتب پای ته رسولی ؤ، او دثانیوی ټولګی اوبکلوریا جوړولئی ایجابول ، نولومړی (بکلوریا) چه (اعدادیه امان) نومیده هم پرانسته شوه د انقلاب او دحبیب‌الله د سقاو دزوی دنسلط په دوره کښې چه نهه میاشتی اوزده شوه معارف رسماً موقوف اوښوونځی بند شول تردې چه کتابخانی اودښوونځیو لوازم او سامانونه هم د جګړې اودښار د محاصرې په اثر لوټ اوضائع شول .

په‌نادرشاهی دوره کښې : بیا دښوونځیوتاسیس او جریان

امرور کرښو سر ببره په‌دی چه پخوانی ښو ونځی بیا پرانستل شول نورو عرفانی موسسو هم توسعه و موندله اویو شمیر فارغ‌التحصیل زده کوونکی خارجی مملکتونه ولیږل شول طبی فا کولته، انجمن ادبی اودهغې ټولنی دکابل مجله، د هرات مجله، عربی دارالعلوم، طبی ښوونځی او نور ډیرلومړنی او منځنی ښوونځی په مرکز اواطرافو کښې تاسیس شول .

دمعظم ټولواك محمد ظاهر شاه زمانه : دمعظم ټولواك

محمد ظاهرشاه په دوره کښې معارف له هره خپله پراخ شو، لومړنی اومنځنی ښوونځی په مرکز او اطرافو کښې له‌پخوانه زیات کړل‌شول . اوپه ولایتو کښې لیسې جوړې شوې، دهرشق له‌پاره ښوونکی اودمتخصصین استخدام شول همدا ډول زده کوونکی (شاګردان) هرکال په‌زیات شمیر سره دلوړو تعلیماتو په غرض خارج ته لیږل شوې دی او لیږل کیږی په دغه دوره کښې دحقوقو اوسیاسی علومو فا کولته، دسیانس فا کولته،

دادبیاتو فاکولته، منځنی اولومړنـی دارالمعلمین ، مستعجله، حربی اوعرفانی، میخانیکی ښوونځی ، ددوا ګـانو جوړولـو، طبی، زراعتی ښو ونځی، لیلیه اونهاری‌لیسه، تجارتی ښوونځی تخنیکی ښوونځی، دښته کاری ښوو نځی او دصنایعوښوونځی چه درسامی ، مهندسی د قالینو او بـدل، نجـاری ، معـماری، رنـګمـالی‌دمجسمو جوړول، لیتوګرافی، خیاطی او د تزئیناتو بیل شقونه‌ئی درلودل. اودسپورټ ښوونځی، د تجارتی صنایعو ښوونځی، دقبائلو ښوونځی، لومړنی اومنځنی ښوونځی ،د نجنو لیسه اودنجونو دادبیاتو فاکولته، دقضاتو ښوونځی ، دشرعـیه علومو مدرسه، داکـابرو کورسونه ، حـربی کورسونه، دپولیسو کورس اودژاندارمی ښوونځی تاسیس شول، او مخ په بشپړتیا او تکامل روان دی .

د ۱۳۳۲ کال د احصائیې له‌مخی دښوونځیو او فاکولتو شمیر

| | | |
|---|---|---|
| لیسې | . . . . . | ۱۷ بابه |
| مالی عالی ښوونځی | . . . . . | ۱ » |
| مسلکی | . . . . . | ۲۳ » |
| منځنی | . . . . . | ۷ » |
| لومړنی | . . . . . | ۲۷۳ » |
| کلوالی‌ښوونځی | . . . . . | ۱۸۲ » |
| د طب فاکولته | . . . . . | ۱ » |
| دحقوقوفاکولته | . . . . . | ۱ » |
| دسیانس‌فاکولته | . . . . . | ۱ » |
| دادبیاتوفاکولته | . . . . . | ۲ » |
| دشرعیاتوفاکولته | . . . . . | ۱ » |
| حربی‌فاکولته (حربی پوهنځی) | . . . . . | ۱ » |
| ټول | | ۵۱۵ |

## ۷ـدافغانستان ادیان :

ترهغه ځایه پوری چه دآریائې پخوانیووثائقو، تاریخ‌اود کتنو او د لرغونو شیانو، دپښتندلوله تحقیناتو څخه معلو میږی د پخوانی افغانستان یا د آریانا او سیدونکی تل دینداره خلک وواوله هرآئین سره چه پخپله په مملکت کښې د ننه پیداشوی دی اویائې له د باندی څخه سرایت کړی‌دی ډیره مینه ښکاره کړی ده خپل‌او دخپل محیط دعقیدې او اتکل نقش ئې‌په هغه آئین کښې کیند لیدی ،دهغو تحقیقاتو له‌مخی چه د آریانا په غربی‌اوجنوبی برخود اندوس او بلوچستان په علاقو کښې شوی دی لکه چه (اوپرت) نظریه‌ور کوی داسی معلومیږی‌چه‌مذهب دآریائیانو تر ظهور پخوالوړمقام درلود،دغه‌ځای اوسیدونکو له آریائیانو څخه د پخوا د یوه آسمانی ذات او د یوې الهې مفکوره په‌خپلو ماغزو کښی‌درلوده دغه‌دواړه خپلواکی (مطلق العنان) واو د بشری او د نیائې ټولو ښپګټو اوبدیو واکمن ګڼل کیدل .

الاهه‌مور یاستره‌مور : داندوس اوبلوچستان‌د.موزې د کلکولی تیک د دورې په شیانو کښې دښځویو شمیر ډیر هیکلونه پیدا شوی دی چه څنیې ئی‌ښائی‌دلوبود سلمانو جزوی خوځو نورئی په ټینګه‌سره په‌ذکرشوی ډله کښې نه ګڼلی کیږی عموماً لوڅی او نیم تنه دی او متعددی‌غاړ ګی (ګلوبند)لری هغه توپیرچه د بلوچستان او سند دناوی په‌مجسمو کښې شته هغه دادی چه په بلوچستان کښې ئې زیاته برخه د دغه هیکل سر ښودلی دی او د هغه بڼه ډیره بد قواره ده دغه هیکلونه ئې (الاهه‌مادر) تعبیر کړی‌دی.څرنګه چه دوی په دې عقیده وو چه د دې الهی نیمه تنه تر مخکې لاندې ده نو دغه هیکل ئې همیشه نیم تنه څرګند او همدغه ډول مجسمې دآسیادغرب له برخونه له‌فارس نه‌نیولې د (ایجې دبحیرې ترسواحلو اوهمدغه رنګه له‌اعیلام بین النهرین، کمکی‌راسیا،شام،فلسطین، قبرس، بالقان اومصرنه هم پیدا شوی دې خو په هر ځای کښې په لږ تو پیرسره ښودې شوې‌ده خوهرچیرته هماغه(الاهه‌مادر)یا)دطبیعت‌مور) مجسموی د الاهه‌مادر پرستش په آریانا کښې دکلکولی تیک په وخت کښې تر دووزرو کلو ق،م پخوا رواج‌او عمومیت درلوداوښائې ځینو مطاهرو د هغې په‌شان له‌هغې دورې نه په ورو سته دورو کښې‌دوام کړی‌وې ځکه چه (موسیو کرل) په۱۳۱۷هجری کال کښې دشهربانو ،له کندوالو څخه د تاشقرغان (پخوانې خلم) شمال له ۱۸ کیلومتری نه‌دپخې شوې خټې نه وړې مجسمې موندلی دی چه دهاکن‌په‌عقیده‌دامجسمی‌الاهه‌مادر یا (سترەمور) ښئې‌سربهره په‌دې‌څرنګه چه د(الاهه‌مادر) یا(سترې‌مور)پرستش تر تاریخی دورې پخوا دسند څخه نیولې تر نیل پورې دآسیا دغه برخه کښې معمول ؤ، نو د هغومجسمو وجود په افغانستان کښې تر تاریخی دورې‌پخوا ثابت دی ځکه چه د هغو شواهدله وزیرستان اوسوات څخه هم کشف شوی دی دغې ربة النوع یو نر جوړه هم درلودچه د پوهانو په‌عقیده د(شیوا) لومړنی نمونه تشکیلوی دی ئې له څومخو،دوؤښکرو او دروستر ګو سره ښو دلیدی اودځاروبو بادارئې باله‌دده په‌شاوخوا کښې ئې تل ځاورې ښودل . د هغه غوائی تصویر چه دځینو موهنجو دارو مهرو په مخ نقش شوی دی د هغه غوائیی لومړی نمو نه ده چه په تاریخی نسبتاً نو یو د ورو کښې د شیوا د علایمو جزء د مسکوکاتو په مخ استعمال شوی‌ده.دغه‌ربة‌النوع اوربالنوع دسندله حوزې نیولی دنیل ترحوزی پورې د آسیا په دغه ټوله برخه کښې په بیلو بیلو نومو (Lois,osiris) (Attis'cybele) ، (Rheua'Ma) مشهو ر ؤ ، اود کلکولی تیک دعصر د مذ هبی مفکورو اساس ور بـانـدې ولاړؤ

اناهیتا : پخوا مو وویل چه د(الاهی مور) پرستش د آریائیانو پخوانی یادګارونه دی،سره له دې آریائی وثائق خاص بیا اوستا دغی زړې خاطرې یا هغې خاطرې ته ور ته موضوع ته اشاره کوې داوستا دشهادت له مخې واضح معلومیږی چه د(الاهی مور) یا د (طبیعت مور) مفکورې د اوبو د الاهی او دځمکی دنامیئی قوې شکل هم غور کړی ؤ اوپه آریانا ، په تېره بیا دسردریا اواکسوس ترمنځ برخو کښی په پای کښی د(اناهیتا) په نامه یاده شوی ده (اناهیتا) چه په اوستا کښی ډیر مکمل څو ځله (اردوی سورا- اناهیتا) لیکل شوې ده اصلا داوبو ر بةالنوع په عام مفهوم یاهغه ډول لکه چه(کایګر) عقیده لری د اکسوس درودخانو یادآمودریا ربةالنوع وه (دارمستتر) له دغه پورتنی اوستائی تسمیه (عالی مظهره قوه) ترجمه کړې ده چه له هغی نه مطلب ددغو اوبو د رابهیدو طبیعی سر چینه ده چه د (هوکریا) دغره په سر دپامیر په یوه لوړه ځو که کی واقع ده اوستا داناهیتا دشکل او اندام اوجامو په نسبت مفصل معلومات ور کوی ، خو څرنګه چه دغی ربة لنوعی په آریانا کښی دقبل التار یخ له زمانو څخه پخوا نژ دی د لویو کو شانیانو د دورې تر ختم پورې پیروان درلودل پاتی تفصیل به ئې پخیل ځای کښی و لیکو .

دلته داوستا په دغه بر خه باندی استناد کو ؤ چه اناهیتائی دباستانی ربة النوعی په حیث یاده کړی ده او دغه مطلب له دې څخه واضح کیږی چه تولو آریائی پاچاهانو له(یما) څخه نیولی تر ( ویشتاسپه ) د زرتشتر معاصر پورې او پخپله زرتشتر هم هریوه له هغې څخه استعانت کړی دی .

نو د (الاهی مور) مفکوره په آریانا کښی ډیره لرغونی سابقه لری او دحفر یاتو له شوا هدو څخه په پرته پخوانی مذهبی ادبیات هم له هغی څخه صحبت کوی او اوستا په هغی مشخص نوم هم اپنی دی چه ددې د نورو نو مونو په لړ کښی یادیدی شی (اهیتا دیو کتله شی) .

ویدی عناصر پرستی : د آریائیانو یا آریائی شفاهی ادبیاتو له پیدا یښت سره سم چه دهغو خا طرات نن ورځ دویدی کتابو په صورت سره زمونږ په لاس کښی دی عناصر پرستی او دطبیعی عناصرو احترام دهندوکش په دواړو خواؤ کښی عمومیت پیدا کړ ، آریائیان ډیر دطبیعی قواؤ او مظاهرو مجذوب وو ، او همدغی جذبی دژوند په لومړیو مرتبو کښی پر اختیاوموند له اوداسی شکل ئی غوره کړ،چه هغه ( دطبیعی عناصرو احترام) بللی شو . څینی مدققین په دې عقیده دی چه په ویدی سرودو کښی دقبل التاریخ دیپلو پیلو دورو دیانتو اغیزه کړې ده البته دغه کار بی ځله هم نه دی خو په پرله پوری ډول ، دافغانستان دویدی عصر دیانت عناصر پرستی او دطبیعی قواؤ تمجیدی ، چه ورو ، ورو دمذهبی میتولوژی خاوندان شوی دی اوهریوطبیعی عنصر دنامه، شخصیت او دممیزاتو څخنتن ګرځیدلی دی لکه چه ډیرمشهور ئې (اندرا) دجګړې رب النوع (وارونا) ستوری لرونکی آسمان (سوریا) او(میترا) دلمر رب النوع (اګنی ) داور رب النوع او دنورو کورنیو میرمنده لکه دباد ،آسمان ، څمکه ، شفق ، شپه، ورځ ، سپهار، مابنام. په دې کی شك نشته چه آریائی ساده او لومړنی آئین په تدریجی تحول بیلی بیلی مرحلی و هلی دی له سرو دو څخه داسی هم معلومیږی چه دتولو ګټورو او نورانی عناصرو مجموع ته ئی (دووس پاتر) یعنی (څلپدونکی ذرې) ویلې اودتولو مافوقه څلپدونکی قوه ئی هم په دې نامه بلله لکه چه دپاك خدای (ج) نو ،هندو اروپائی په ډیرو ژبو کښی د (دووس) له همدې کلمی نه مشتق شوی دی او په پښتو کښی دهغه لغوی مفهوم د(ډیوې) یعنی دځراغ په شکل لاتراوسه پاتی دی ، په دې اساس څینی مدققین داعقیده لری چه آریائیان له اوستائی عصر نه پخوا تردې چه دویدی په دورو کښی هم دپاك خدای جل علی شانه دوحدانیت په موضوع پوهیدلی و. نووائی چه دویدی عصر آریائیانو که څه هم په ظاهر کښی دعناصرو اودطبیعی قواؤ دمظاهر وتمجید اوستاینه کوله ، بالواسطه ئی ددوی ټولو خالق هم پیژندی یعنی د کائنا تو دخالق لمنخنه ئی دده دبد یع مخلوق په واسطه سره کوله .په هرحال دپخوانی افغانستان دویدی عصر آریائی آئین دعناصر پرستیږ شکل درلود اودهغی دوری د څینو ارباب انواع په باب کښی لنډ تشر یحات ورکوو .

اندرا : دویدی آریائیانو مهمه رب النوع (اندرا) وه چه اصلا د کومی فاتحې قبیلی حامی وه او په جګړو کښی ئی د (پکتیانو) یعنی د پختون دقبیلی په طرفداریږ هم اقدامات کړی دی دغی رب النوعی ، زیاتره دجګړې د رب النوعی شکل در لود او دهغی علامه فارقه تالنده اوبرښناوه. هغه صدقه چه زیاته به ئی ده ته ورکوله د(سوما) مشروبات وو.دمارانو اوهیانو سره دډې جګړې تراوسه زمونږ په نکلونو کښې شته .

وارونا : وارونا د آسمان رب النوع اودرنیا اوژوند اوښپګنو دقوت دمبداء په حیث ګڼل کیده. آریائیانو لمر دهغه ستر ګی او آسمان ئې کالی اودبادونو طوفانونه ئې دهغه ساه بلله اودنړۍ دنظام اداره ئې وهغه ته منسوبوله .

اګنی: داوررب النوع اودکهول کانون شمېرل کیده اودی ئی د کور دواك خاوند اودفصل اودکهول دسعادت د ډېر ښت عامل ګڼله اودماشومانو دعمر دډیروالی اودهغو ساتنی هیله ئې دده څخه کوله په همدې ډول د قربانیو رب النوع هم ؤ

سوما : سوماهغه مشروب ؤچه دیوډول وښو له عصاري اوله شبدو اوعسلو څخه ؛ بهجوړیده ،دهغه حرارت او خوشالیږ له کبله

چه په بدن کښې به‌دده په‌سبب پیدا کیده‌دوید دزمانې آریائیانو په نزد ئې‌درب‌النوع مقام‌پیدا کړی‌ؤ دسوماواښه دافغانستان‌دغرو په‌لمنو کښې شنه کیده دافغانستان د ویدی زمانې دآر یائیانو عناصر پرستې‌رڼپرمراسم نه‌درلودل اوساده وې او کوم مراسم اودودونه چه‌ئې درلودل په‌دوو برخو وو یوه هغه وه چه په رسمی‌ډول سره وه لکه باچاهی قربانې‌ر یاعمومی قربانې بله برخه‌ئې دکهولونو دودونه‌وو. په‌لمړی برخه کښې به‌پوهانو یامنوری طبقی‌زیات گډون کاوه‌اودوهمه برخه‌به‌ئې په کهولونو کښې‌دننه کیده.

آریایان به‌دخپل دودسره‌سم دروڼی دریڼواره. سهار غرمه ماښام په‌زیاته بیاسهار دخپلو ساده دودونو یامراسمو د پرڼای کولو دپاره‌چه، دادودونه دستاینې‌سرودونه‌وو، په طبیعی ښکلو ښکلو ځایو کښې سره راغونډیدل، اووروسته د سوما ترچښلو به‌یې خپل سرودونه ویل دروحانیونو طبقی او پوهانو په‌ټولنو اوپاچاهی دربارو کښې ښه‌نفوذ درلود اوپه حقیقی اوپوره ډول سره دقوم دسعادت خادمان وو.

اوستائی آئین اوزردشتی‌رفورم: که څه‌هم دویدی په‌زمانو کښې‌دافغانستان آریائیانو سره‌له‌دی چه ویدی سرودونه‌یې‌لرل یو ډول مذهبی کتاب‌ئی هم‌درلود ( سره له دې چه هغه وخت داکتاب دیوه کتاب په‌ډول نه ؤ سره ټول شوی) خو دخپل ژوندانه په‌دوهمه مرحله کښې دهندوکش په دواړو خواوو کښې په‌یوه‌معین اومشخص‌ډول‌سره دیوه‌مذهبی کتاب خاوندان‌هم‌شول چه ترنن روڼی پورې داوستاپه‌نامه سره مشهور دی دویدی ددورې له‌ختمیدو اودهندوکش له‌دروڼخه د ځینو آریائی قبیلو دمهاجرت نه‌وروسته چه دهند اوفارس خواته ولاړل ترمسیح دمخه دیوزریایوزر اودوسوه کالو په‌شاوخوا کښې دویدی ټولنې پخوانې‌ر عناصر پرستی‌واوښتله اوڼخانته‌ئی نوی شکل پیدا کړ او ددې نوی لاری اونوی دیانت پیدا کوونکی (زرتشتر) یا(زرتشتر سپنتمان) ؤ اونوموړی د باختر دپخوانو روحانیونو یا حکماؤ یاریشیانو له طبقی څخه‌ؤ ( دزر تشتر ماده دې وکتل‌شی) اودمحیط اوزمانی داقتضاآتو په اساس‌ئی دویدی مملکت په معتقداتو کښې تغیرراووست اودنوی مذهب بنسټ ئی کښېښود چه‌ځینی‌یی (زوراشدی) او (زردشتی) او ځینی‌یی (مزدیزم) اوځینی یی دښو اوبدو دعنصرو د مقابلې په علت (دوالزم) اوځینی‌یی دمذهبی کتاب په نامه او ستائی بولی دانومونه ټول مناسب‌وو مگرمونږ دخپل‌هیواد دادیانو په‌تاریخ کښې هغه ډېرداوستائی دیانت په‌نامه سره بولو اوستائی آئین دپخوانی ویدی آئین دمعتقداتو دتحولاتو لمن اوفرع ده ځکه دځینو کسانو دتصوراتو په‌خلاف ثابته‌ده چه ویدی او او ستائی معتقدات لکه دهندې دوو، دورو ژبو او نورو ممیزاتو غوندې دیوه آریاناپه مخکه کښې‌وو، اواصلاً ددې‌مخکې داوسیدونکو مخصوصه‌مبداء وه.

اوستائی مذهب په‌باختر کښې دهغه دپیدا کېدلو له وخت نه د(زروکالوقم) په خواوشاکې ؤ تراوسه له منځه نه دی تللی اودوخت اوزمانو په‌تېرېدلو سره یې په‌مختلفو زمانو او مختلفو ځایو کښې‌دترقی‌ر اوبحران دوری تېری کړی او دډېرو سترو تحولاتو سره مخامخ شوی‌دی چه‌دلته دهغوپوره بیان نه‌شی کېدلای. نودلته‌داوستائی مذهب‌دشرحی‌نه مطلب‌دهغه پیدا یښت اواساسی اوواقعی شکلونه‌دی چه‌د(یوزرکالوقم) په خواوشاکی تردوه سوه کلوق م ( په‌افغانستان کی دبودائی مذهب د پیدایښت تروخت)پوری دآریائیانو رسمی اوعمومی دین ؤ د افغانستان دآریائیانو دویدی عصر عناصر پرستې‌ر په لنډ ډول‌سره داسی ښودلای‌شو چه‌له‌نورانی اوظلمانی عناصرو څخه وېرې اوهیلی درلودل، دوی‌دې‌ته گمارلی‌وو چه‌دعناصرو نمانځنه او احترام وکړی اودکائناتو دخالق پروجود باندی هم تریوې اندازی دوی‌ایمان درلود اوپیژانده‌یی په اوستائی دین کښې دې شیانو هریوه پرخپل‌ځان انبساط وموند اوپه‌ډېرقوت سره‌ئی خپل معین شکل دښواوبدو په‌ډول یودبل په مقابل کښې پیدا کړ اویودبل سره مقابله‌ئی داوستائی دین بنسټ‌شو ، دادواړه قوتونه هریو دیوه‌ښل‌شخصیت‌خاوند اوڼخانته نوم ئی پیدا کړ، لکه‌چه‌دښوقوت یی (سپنته‌مینو) اودبدو قوت‌ئی (انگرو مینو) باله کوم‌څه‌هم داوستائی‌مذهب‌اساس دهمدی د ووقوتو (روښا اوتیاره) ښو او بدو پرمقابله باندی کښېښودل شوی ؤ، خوبیاهم(اهورامزدا) یعنی «هرمزد» پر ټولو باندې حکمرانی کوله، نوپه‌همدې ډول‌ښائی چه‌ځینی‌ شیء چه‌هره مقابله اوشخړه به‌چه د(سپنته‌مینو) او(انگرومینو) په‌منځ کښې راڼله دآهورامزدا په‌مقابل کښې کومې‌خبیثې‌فاعلې قوې خارجی وجود نه درلود نو اوستائی دوالیزم په گاڼونو کښې یو مخصوص اوڼخانګړی مفهوم درلود او په‌همدې ډول اهورامزدا (هرمزد) په یواز یتی صورت سره دکائناتودنظام اداره کوله اودنیکی‌ر اوبدی‌ر ،خیر اوشر، نور اووجدان او دنفسانی شهواتوداغوا دتیارو دقوتونوپه منځ کښې مقابله وه . اوسره‌له هغه‌هم د خوشبینی‌ر دروح په‌واسطه چه‌په همدې مذهب کښې موجود و او داخلاقی قوانینو په‌مراعات سره به‌رونا پرتیاری‌باندی بری اوغلبه- میندله په حقیقت کښې آوستا ژوند اودژوند مربوطاتوته دوی جنبی ورکړی وی چه یوه ئی رونا اوپله‌یی تیاره او ظلمت وو جگړه اوشخړه اونفسانی غوښتنی او و جدانی هدایات دهمدې دوو مفکورو آثار او مظهر باله کېده چه اوستا بیا هغه ته په بشری ټولنه کښې عمومیت ورکړی دی، او دمقابلې اوجگړې په مهال کښې ئی‌تل د عزم او اداري توصیه کړې ده چه‌په‌پای

کی پر نفسانی تیارو باندی دوجدان رنړاعلبه مومی اوپه‌دې ډول ده لکه څرنګه چه وړاندی وو ډول‌شوو په اوستائی مذهب کښی دنورانی اوظلمانی عناصرو څخه یوه مجموعه منځ ته راغله چه نوم، شخصیت اونښانه یی هم لرله نورانی عناصرو یاخیر اونیکۍ سره له‌هغه خپل‌اهمیت اوښیګنی چه درلودل یی په اوستائی مذهب کښی‌ئی لوړ مقام پیدا کړ، او دغی مجمو عی ته ځینو اوستائی ارباب‌لانواع‌ویل. خوپه دې هم باید و پوهیږو چه لکه یونانی ارباب‌الانواعوغوندی دمادیاتونمایندګان نه‌و هیڅ په مجسموسره نمایش نه ورکاوه بلکه په عمومی ډول به‌ئی معنوی شخصیتونه درلودل، چه هغوی به یی (یزتا) بلل‌او(امشه سپینته) یعنی(ابدی‌اوپاك ارواحان) به‌دهغوپه‌ډله کښی راتلل اودهغو شمېر په‌دې‌ډول وشپږوته رسیده (۱) و هیو مانو Vhou-mano نیه‌فکر ۲: اشاوهیشته Asha-vahish ta (خورا نیه‌تقدس) ۳ـ خشه‌تره‌وریا Khshthra-Varye (عالی سلطنت) ٤ ـ سپینتاارمتی Spenta-Armati (داعتدال‌حس) ٥ـ هروتات Hervotatسعادت اوصحت ٦ ـ امرتات Amertat (ابدی) امشه سپینته(پاکواروا‌حانو) هریوه خپل ځانته وظیفه در لوده لکه (وهیومانو) درموساتونکیۍ ، (اشاو هیشته) داور رب‌النوع باله کېدۀ اوتقریبا د (اهورامزدا) استازی ( قاصد) هم ۀ «سپنتا ارمتی» دمځکی ساتندوی ۀ، او «هروتات» او«امرتات» داوږ ده عمر اوسعادت اوخوشبختیۍ بخښو نکی باله کېده، او پراوبو اونباتاتو ئی سلطنت در لود اوپرته له دې نور ګټور قوتونه اوعناصر هم وو چه (سپینته مینو) یا ( دښېګنی قوې ) یی د (انګرمنو) یا (خبیثو ارواحانو) یاد دیوانو او شیطانانو په‌مقابل کښی تشکیل‌اوپیدا کوله لکه‌چه‌وویل‌شوو‌داوستا مذهب داخلاقی رشد، دښو اوبدۀ پرتمیز او دښو دتقویه کولو په‌اساس بناشوی ۀ انتخاب اومسئولیت دوګړو پر خپلو او زو باندی ۀ. داوستا ئی اصولو سره سم بشرد (هرمزد ) مخلوق باله کېده اودپیدایښت له‌ورځی څخه به دنورورونه‌تر حکم لاندی باله کېده، خوځرنګه چه بشر ازاد پیدا شوی وو نو انتخاب دده خپل حق باله کېده اوچه سعادت او نجات ئی دده په همدې انتخاب پوری تعلق درلود نو پرتیاره باندی دنور په غلبی اوبریالیتوب کښی به هم دی موثر او سهیم ۀ، ځکه چه دبشر هرښه عمل دنور اورنړا له‌قوې سره لویه مرسته کوله، اوهربدعمل چه دهرچا څخه به کېده دتیاری سره مرستیال ۀ اوتیاره اوظلمت به‌ئی زورور کاوه، نوله‌دغه کبله بشرباید دښه والی اورنړائی خوا نیولی وای چه رنړا فاتحه شوې وای ځکه چه دده ساتنه دتیاری په‌مقابل کښی دنړا دبری په ۆاسطه سره کېدله . برسیره پردې پل‌کوم څیز چه داوستا ئی پیروانو په اخلاقو کی‌یی زیات‌تاثیر درلود،هغه‌داعمالو دنظارت عقیده‌وه چه د (امشه سپینته) له خوا به کېده او هرښه او بد کار دده له خوا تشخیص اولیکل کیده اوپه دې ډول سره به او ستائی دین خپل پیروان دنور او رنړائی اونیکیۍ و خواته رابلل او هرچاته به‌ئی درونړائی اوتیاری په غوره کولو کښی ازادی ورکوله اودښواوبدو عملونو دنګرانیۍ څخه به‌یی خبرورکاوه اوفردی نجات اوسعادت ئی د ښو اخلا قو په غلبه پوری منوط اومربوط کړی ۀ . لنډه داچه د اوستا اخلاقی قوانین په درو کلیموسره چه دیوفور مول په ډول دی و تاسوته درښو دلای شو : (هومته ـ هوخته ـ هورتشته) یعنی (نیك اتکل ـ ښه‌ویل ښه کول) په همدې ډول سره داوستائی پیروان مجبوره وو چه خپل‌فکر ـ ژبه ـ اوعمل‌دهرې ناولتیا څخه‌پاك وساتی اوبد اعمال په‌فکر کښی هم راونه ګرځوی. داوستائی دین منو نکو دآخرت په ورځ اوداعمالو په جزا باندی ایمان در لود اومنل ئي . اوپه ظاهری اوباطنی سپیڅلتوب او پاکی‌په رشتیا مروت اوسخا سره توصیه شوی وه او دروا غ دخورا زښتو لویو ګناهونو څخه شمېرل کېدل . او ستا کلکه مارینه کړې وه چه مځکه، اور، اواوبه‌دې دلوث اومردارولوڅخه‌پاك‌وساتل شی خصوصاً دمړو دجسدله لوث څخه دې ساتل کېږی. اوپه همدې سبب چه اورد پاکیۍ نخښه وه نوپه‌دې دین کښی داور احترام په دومره افراط سره وشو چه دادین داتش پرستیۍ په نوم موسوم شو، اواور دآهو رامزداد نور اوپاکیۍ په‌حیث مقدس باله کېدو په‌همدې ډول دځمکی دپاکوالی احترام دا وکړه چه مړی هم ښخ نه‌کړی او دغرونو پرلوړو څو کو ئی کښېږ دی چه غوښه ئی مرغان وخوری او ورك‌شی . داوستاد ددین طرز اورفورم دنومورو اصولو په مطابق د افغانستان دهغه وخت دپاره خورا غوره اوخورا ګټور ثابت شوی‌دی ، چه وګړی ئی دزحمت و کښلو او کښت کولو، دمځکی و دانولو اوپاکیۍ خوشبینیۍ اوښو اعمالوته تشویق او وګمارل په قو مو کښی‌ئی درشادت، مقاومت اومبارزې روح تولید کړ چه په نتیجه کښی ملت دښه شهامت خاوند شو .

اوستائی فرعی مذهبونه : هرکله چه دویدی مذهب درفورم په‌اثر اوستائی دین دهندو کش په دواړو خوا ۀ کښی پیدا او منځ ته راغی، نوداوستائی او ویدی مذهبو لەځینو پخوانو اساساتو څخه کم کم نور مذهبونه هم پیداشول، چه په مملکت کښی دننه‌اوترمملکت دباندی‌ئی هم لږ لږ تاثیرونه وکړل .

داور پرستش : پخوا مو وویل چه دویدی په‌عصر کښی اوریو رب‌النوع درلود چه نوم ئې (اګنی ) ۀ، اوپه اوستا کښی اور د(اتار) په‌نامه راغلی دی ، اولکه چه مووویل چه (امشه‌سپنته) او(اشا وهیشته ) دهغه نمایندګی کوله .

داوستائی مذهب په رومبنی اساس کی کښی داور نمانځنه‌او پرستش نه کېده خو وروسته دهغه پاکیۍ ته لږلږ دتقدس مقام

ور کړشو.اود (اهورا مزدا) دنور انعکاس اوداخلاقو دسپیڅلتیا نخښه، اودخبیثو ارواحانو په‌مقابل کښې ددفاع وسله او حربه وباله شو، او داډول خیال‌ئې کا وه چه کله چه دیوان او شیطانان دشپې له مهال فساد اوفتنه اچوی یواځی د اور رنا دافساد ورکوی اودوی پرا راو فناکوی، نو ځکه ئې اور د (اهو را مزدا) زوی‌اونوراوفارقه علامه بلل او دویدی ز مانی ددودونو په اساس دکورنۍ په کانون کښې‌داورېلولو عمومیت وموند. اوپه‌آتش کدو داور ساتنې دهمیشه‌دپاره رواج وموند، او روحا نیو نو دا کار پر اوزه وا خست او دوی ته وسپارل‌شو.اودشاهانو اومو بدانو له‌خوالویی آتشکدی جوړی شوی اوزمونږ په‌هیواد کښې‌ډېره لویه آتشکده د(مهر برزین) یا(برزین مهر آتشکده)وه چه (ویشت اسپه) جو ړه کړې وه بنـداهش هغه په خراسان کښې د(رای‌ونتا Raeventa ) دغره پرسر بولی (سینتو داتا) یا(سپندات) یااسفندیار دآریانا دپاچا ویشتاسپه زوی په (بخل بامیك) یاخلاند بلخ کښې د ( نوا زك Navazak ) ښارودان کړ اود (وهران Vahran) آتشکده‌ئې هلته جوړه کړه، ځینودنوازك ښار د(نویده Nawida )ښاربللی دی ، او دبلخ دشمال په۳۰ میلی کښې ئې د اکسو س (آمو) دسیند پرغاړه دبلخ اوسمرقند په‌لار کی بولی. کوم و خت چه اسفندیار دا آتشکده جوړه کړه نود ګاوند یوهیوادوباچاهان یی داور نماڅنی ( آتش پرستی)ددین‌منلو ته راوبلل که څه‌هم په۷ مسیحی پیړۍ کښې‌هغه‌وخت چه‌چینی‌زائر (هیوان‌تسنګ) دلته راغلی‌ؤ،دبلخ‌مشهور(نوبهار) بودائی‌معبدؤاود (ناواویهارا) په‌نامه‌معروفؤ ، خوپه اصل کښې‌هغه آتشکده وه، خوکوم وخت چه‌بودائی‌مذهب‌په‌باختر کښې‌رواج‌شو نودغه آتشکده په‌بودائی معبد تبدیل اوالیشه شوې اوډېرشهرت یی پیدا کړی‌دی .

اناهیتا : مخ کښې‌مود (الاهه مور) یا(لویې مور) په بحث کښې (اناهیتا) یادکړی ؤ خوهلته‌ئې دقبل‌التاریخ شکل په‌نظر کښې نیول شوی‌ؤ . او ستا اناهیتا او دهغه شکل کا لی او ګیڼه داډول ښیی چه‌لـکه مجسمه اومعبدچه‌ئې په همدغـه وخت کښې حاضر وو. راولنسن په خپل کـتاب ( بکتریان) کښې وایی چه (اناهید) د ( بکترا) یعنی بلخ په‌ښار کښې یو خورا غوره او ښکولی معبدؤ . نومورې لیکی چه ترسیروس اود اریوش پخوا دامعبد په‌باختر کښې‌ؤ. هغا منشی پاڅهانو دخپلو یرغلو په‌ترڅ کښې (اناهیتا) پیژاند اودپرستش مفکوره ئې په فارس کښې خپره کړه اویو معبدئې‌په اکـبـاتـانـا (همدان) کښې جوړ کړ او وروسته تر ارتا ګزارسس منون(Artaxerxesmnewon) (۳٦۲—٤۰٤ ق م) په فارس کښې دهغه پرستش رواج وموند په باختر کښې دکو شانیانو ترو ختـه پـوری د اناهیت پرستش لاکاملا له منځه نه ؤ تللی .

بودائې دین : په هغه وخت کښې چه اوستائی دین ټول‌پخوانی افغانستان نیولی‌ؤاو د دولت د رسمی‌دین او دخلکو دملی‌مذهب په حیث ګډل کیده ، په ( ٦ق‌م) پیړۍ کښې زموږ په ګاونډی مملکت هند کښې دښارس ښار د کشتر یـا د کورنۍ او د (ساکیا )دټبـر څخـه(یوساکیامونی) نومی شازاده سلطنتی عیش اوبرم ترپښو لاندې کړ ، او وروسته د ځوکلوا نزوا او دنیا پرې ښودلو څخه او د ژوندانه د نیک‌بختۍ او د حیات د فلسفی د پلټلو په‌نتیجه کښې(بودهی)یعنی‌منورشو، او دبودایی دیـن تا د اوئی کـښـېـښـود ، او دده ( دهارمه Dharma) او (سانـګـه Sangha) یعنی دده درا هبانو حلـقی او قوانین منـځ تـه راغلل . دبودائی‌دین‌اساس او فلسفه د درد احسا س او دهغه د عـلاج د لیـا رو پیـدا کـول ؤ ، دنیـا او دهغی دپیدا ینت اسرارو ته‌ئی اهمیت‌نه ورکاوه ، او داتوصیه‌ئی کوله چه هر سړی دې باید دریاضت‌اوسولی او سلام‌دلیاری نه‌په‌ځان کښې دروح داسی ارامی پیدا کړی چه‌په(نیروانا) یعنی ددنیانه په ماوراء ژوندانه کښې نجات وموسی . د پخوانیو روایاتو له مخی دبودا دمرګ په‌کال په(پاجاګره) کښې یومذهبی مجلس جوړشو اوده‌دری نفروسترو مریدانو چه( اناندا Ânanda) ، ( یوپالی Upali) او(کاسیاپه Kacyapa) نومپدل دده دخبر و څخه دمذهبی قوانینو یوه‌مجموعیه د(تری‌پی‌تاکه Thripataka) یعنی (دګلودرې ګډې) په نوم جوړه کړه . بودائی دین‌تقریبا درې سوه کاله په‌هند کښې پاته‌شواود (آشوکا) دتخت‌دکښیناستو په یوولسم کال‌چه‌دموریادپاچاهانو دکورنۍ څخه‌ؤ،په (۲۵۹ق‌م) کښې په‌هندوستان کښې یومذهبی مجلس جوړ شو ، دې مجلس دافیصله وکړه چه‌مبلغین دې هم په‌هند کښې اوهم‌ترهند دباندې ولیږل‌شی بالاخرمبلغین لکه(مجهان‌تیکا Majjhantika ) (دهه مارا کی‌تا Dhamarakhita) اومهارا ګیتاد آریاناواوآسیادغربی مملکتوخواته ولیږل‌شول اوپه‌نتیجه کی‌بودائی مذهب‌دق‌م‌دوهمی پیړۍ په‌منځنیووختو کښې‌په‌سو که‌سو که ګندهارا، نګاراهارا،میاکا، کاپیسا، بامیان‌هیبك، باختر، تخارستان یعنی‌دمملکت نیمه شرقی برخه‌ئی ونیوله اواوستائی دین دهیواد په نیمه غربی خوا برخه کښې محدود شو . همدې بودائی‌دین په‌هندوستان کښې ډېره‌محدوده فلسفه درلودله اویواځی د (هنایانا) دنجات کو چنۍ‌لاره‌وه . دافغانستان او ستائی معتقداتو دهند په مذهب کښې خورا ډېر تاثیر وکړ اودهغه‌رقبه‌ئی د (سروستی وادن) دمدرسی په‌اصولو سره پراخه کړه‌اودیولوی محفل‌په‌اثر چه دلوی کانیشکا په‌وخت کښې په‌پیښور یاکشمیر کښې د یو عالم تر ریاست لاندې چه (وازومیترا) نومید جوړشو ، د(هنایانی)دمدرسی محدود حـال خورا پراخ شو او د(مهایانا) یاد (نجات لویه‌لار) جوړه شوه. او ( ګندهارا ) یعنی دکابل دره د بوداددین نوې ځمکه شوله .

دبودا مذهب دافغانستان په نیمه شرقی خوا برخه کښی خوراژر پرمخ لاړ او دموریائی اشوکا دوخته څخه نیولی بیاد کا نیشکا تروخه پورې په هډه ، کاپیسا ، پښور، بامیانو، هیبك ، او باختر کښی خورا لوی لوی معابدورته جوړشول ، چه لوئی لوئی نخښی ئی تراوسه په افغانستان کی پاتی دی ، په زرو معبدنو اومتبحر راهبین اورو حانیون دمذهبی کتابو په تالیف اوترجمه بوخت شول د باختری یونانو اود افغانستان دبودائی صنعتی روح سره په افغانستان کښی هیکل جوړول هم باب شول اوپه هند او مرکزی آسیا کښی نشرشول دبوداخورالوی هیکلونه خورا لوئی ډبرینی استوپی (مونولیت) چه په ټول جهان کښی تراوسه نه دی لیدل شوی ، په پښور، هډه، بامیانواو بلخ کښی جوړشول د افغانستان بودایی روحانیونو دخپل هېواد څخه دبودا د مذهب فلسفه ، دمعماری اودهیکل تراشی اصول پټ پرپټ د پامپر دهغی خواته دختا اوختن ته او دمرکزی آسیا څخه وچین بلکه ترشرق اقصی پورې خپاره کړل، دبودادین دق م دوهم قرن څخه د مسیحی تر۹ ق م پورې چه پوره زرکاله شی دافغانستان په نیمه شرقی برخه کښی ئی رواج درلود ، اوافغانستان دهمدې دین کا نون ګنل کېده دافغانستان وګړی لکه څرنګه چه وویل شول خوراډبر دنجات دلوې لارې (مهایانی) پیروان وو ، اودنجاة دوړې لارې (هنایانی) پیروان هم څه څه پدوی کښی پیداشول ، لکه څرنګه چه دچین لوی ګر زبدونکی (سیاح) ، (هیوان تسنګ) دتلوپه وخت کښی چه په مسیحی ۷قرن کښی ددواړوطریقو پیروان لیدلی وو افغانستان په بودائی مذهب کښی خورا مشهور را هبین تربیه کړی وو، چه هریوه پخپل عصر کښې خورا نوم درلود . دکنیشکا په زمانه کښې دمسیح په دوهم قرن کښې (وازومترا) او(پارسووا) چه اصلا کندهاری وو ، دښه نامه خاوندان وو ، اودپاچا په مذهبی محفل کښې ئې ښه رول لوباوه .(مانتانکا) او(دهرماکالا) او (ګوناوارمن)چه اصلا یې نسبت وګند هارا، اوکاپیسا ته کښیزی دافغانستان دکوشانیانو د عصر نمونه وو، اودمذهبی کتابو په ترجمه کښې پې ډیرلوی خدمتونه کړی دی ، او په (۷) مسیحې پیړۍ کښې (پراجا ناکارا) په بلخ کې او (الی یو سن نا) او (الی یو توسا) په بامیانو کښې ز مونږ دمملکت د بودائی مذهب خورا لوی علماء ګنل کیدل . پخوا مو وویل چه کله چه دبودا دین په افغانستان کښې نشر کېده داوسنا دین ټول مملکت نیولی ؤ ، او دواړو دینونو په ډېره ارامۍ سره په همدې مملکت کښې تردیره وخته پورې مقابله سره درلوده ، اودبوداین په تدریج سره په آخر کې کامیاب شو خو داکامیابی د افغانستان په شرقی نیمه خواکښې ودرېده .

یو نانی اساطیری ارباب انواع : دسکنه رفتوحاتو په شرق کښې اودیونانو باختری مستقل سلطنت تشکیل په اولودوو ق،م پیړیو کښې په افغانستان کښې اساطیری یونانی ارباب الانواع باب کړل او ددوی نقلونو دخلکو په ذهنونو کښې لوی تاثیر واچاوه مسکوکات اوهیکل تراشۍ په دې لار کښې دخیلی وی، اوپه دې ډول دهر کهول زوس - ژوپی تو - دیونی زوس اونورو نکلونه رواج شول . اوددوی دپاره عبادت خانې هم جوړې شوی دیو نانو باختری د پاچاهانو د سلطنت په عصر کښی او دلویو کوشا نیانو په وخت کښی مذهبی کارونه ازاد شول چه په دې ډول سره یودائی دین ډیر پراخ شو ، او زمینه ئی دنورو دینونو دپاره مساعده شوه ، باختری یونانو شاهانو که څه هم رسماً یونانی اساطیری رب النوع پخپلو سکو کښی وهله ، خوبیاهم لږ اوډیر دافغانستان دمحلی دینونو تر تاثیر لاندې شوی وو، لکه چه عقیده دا ډول ده چه (مناندر) په پای کی دبودا په دین شو، لوی کوشانیان هم په پای کښې د افغانستان په ادیانو کښی داخل شول ( ویما کد فیزس) پخپلو مسکو کاتو کښی شیوا ښودلی دی اوځان ئی شیوائی معرفی کړی دی . لوی کنیشکاهغه پاچاؤ چه دخپلو مسکوکانو په واسطه دانښې چه دوی وټولو دینونه احترام درلود ، رب النوع اوستائی، یونانی او بودائی ټول دده په سکو کښی وو، اوزمونږ ئی اخستل شوی دی. په هرتقدیر دټولو عقیده داډول ده چه دوی ورو سته بودائی شوی دی ، او دهمدی بودائی دین په ترویج او لویو لویو معابدو په جوړولو کې ئی خورا زیار ایستلی دی . داهم باید زیاته کړو چه د(اناهیتا) نمانځنه د لویو کوشانیانو په عصر کی دمسیح دردریم قرن تر منځ پوری نه وه ورکه شوې او علا وه دهغه له نمایش پرمسکوکانو باندی دآمو پرغاړه ئې مجلل معبد درلود چه دمسیح تردریم قرن پورې .

برهمنی لمرنمانځنه(افتاب پرستش : دچینی ګرزیدونکی (سیاح) (هیوان تسنګ) له نوشتو اوځینو اسلامی مورخینو لکه محمدعوفی دشاهدی څخه داډول ښکاری چه دکوشا نیانو په اخرو وختو کښې دافغانستان په جنوب او غربی جنوبی خوا وو کښې دلمر پرستش هم رواج درلود ، او دبودائې معابدو سره دلمر لمانځنې معابد هم وو . اوتر او سه دغو معابدو څخه (دسوریا) دلمر درب النوع معبد د کابل په شمال غربی ۱۲ کیلومتری خوا دخیرخانی په کوتل کښی مندل شوی دی ، اودائی ثابته کړی ده چه دلمرپرستش د هندوکش په اکثرو برخو او دهغه په جنوب غربی لمنو کښی رواج او پیروان او معابدئی درلودل . او پروفیسر هاکن پخپل هغه کتاب کښی چه دخیرخانی دکوتل د عتیقه پیژندلو دتجسساتو په باب کښې لیکلی دی او په (۱۹۳۹) په پاریس کی چاپ شوی دی، اوموضوع ئی هم د(سوریا) معبددی ، دموسیو کومون او د هغه دمدارکو په استناد دانښې

چه(په٤ مسیحی کښې په‌شرق کښې دلمرپرستش رواج‌ؤ ، اودلمر اواور پرستش چه دزرا تشتر دمذهب بقایا وو ، ترډیره وخته په سیستان کښې روا ج در لود او قدم پرقدم دهند وخواته ولاړ اوهلته هم منتشرشو .) د(بهاوشیاپورانه) څخه معلومیږی چه‌دلمر پرستش په(ساکه‌دوپیا) یعنی‌په‌سیستان کښې معمول‌ؤ . اوڅینو موبدانو هغه (بهوجکه) او(ماګه) په‌نامه یادکړی‌دی . (دخیرخانې دغانبې دعتیقه شناسی د تجسساتو د کتاب پاورقی د ها کن تالیف ۳ مخ .

نو د پورته بیان دمخې مونږ ویلای شو چه دلمر پرستش دسیستان څخه چه اصلی ځای ئی‌دی د هندوکش‌په جنوبی‌خواوو کښې دشرق‌وخواته هم‌پرمخ تللی‌دی ، اودهلمند او فراه دسیند غاړه‌ئی‌را اخستې ارغنداو ، زابل او کابل ته ر سیدلی د ی . او دمسیحی ځلورمی پیړۍ څخه وروسته‌ئی دافغانستان په جنوب اوجنوب غرب کښې پیروان او مبابدهم‌پیدا کړی دی چه‌ودوی‌ئی لمر پرسته برهمنا ن هم بلل دلمر پرستش‌موضوع دتکین شاهی (کوشانویفتلی ) په ( ٦-۷ مسیحی قرن ) د مسکوکاتو څخه‌هم معلومیږی.مستر (سی‌مارتن M.F) دبنګال داسیائی شاهی‌انجمن دنشر یاتو دخپلی ۳۲۸ مقالی د٤٦ نمبر ضمیمی په ترڅ کښې دجرمنی (داکتر هاین‌ریش جونکر ) دمطالعو په اساس دلمر درب‌النوعی شکل شودلی‌دې اودافغانستان د ځینو ځایو ومونه ئی یادکړی دی . ددغو مسکوکاتو پر مخ درب النوع نیم ځان دلډول نقش شوی‌دی چه دهغه دشاو خوانه د اورلمبی را پورته شوی‌دی. پاکتر جونکر ددې سکو په‌مخ (داور) دزمین داور، دهیلمنددسیندغاړی ، د زا بلستان ، (سکاوند )دلوګر اوڅونورو ځایو نومونه لوستی دی . اودا لوی شاهد دی چه دلمرپرستش دهندوکش په‌جنوب‌اودافغانستان په‌جنوب‌غربی‌خواو کښې ښیی . علاوه پر مسکوکاتو دعربی او فارسی منابعو یادونی هم شته دلمر دپرستش په‌خصوص کښې‌چه په ز مین داور کښې رواج و بلاذری هم‌معلومات راکوی اووائی چه عبدالرحمن بن‌سمره په۳۳هجری کښې چه د(٦٥۳) سره‌برابره‌وه به‌حیل الزور کښې چه‌په‌ولایت الداور (زمین‌داور) کښې‌دی یوطلائی‌هیکل‌چه‌یاقوتی ستر ګی ئی‌وی، لیدلی‌دی عربی مدققینودامجسمه دلمرب‌النوعه بللې‌ده ډلوګر دسکاوند معبد په‌خصوص کښې‌محمدعوفی‌په‌خپل جوامع الحکایات کښې لیکی چه دامعبد د هندوانو لوې معبد باله کیږی دده دویلو سره سم د هندوستان دخورا لیرې‌ځایو څخه به‌برهمنیان ودې‌ځای‌ته راتلل اودا معبد د هجری دوم‌قرن ترنیمائی‌اودمسیحی ۹قرن تر آخره جوړؤ، او د(فروعان)په‌لاس چه‌د صفاری عمرولیث دلښکرومشرؤ د(کلمو) یا (کملو) سره په‌جنګ کښې چه‌دکابلی برهمنیانو باچاؤ‌په (۲٦٥-۲۸۷ هجری ۸۷۹ -۹۰۰میلادی) کال کی‌خراپ‌شوی‌دی. نوبله شك اوتردیده ویل کیږی‌شی‌چه دمسیحی‌د(٤)قرن‌نه‌ورسته دبودائی اواوستائی دینونو برسیره چه‌دافغانستان شرق‌اوغرب‌ئې نیولی‌ؤ دهندوکش په‌جنوب کښې‌دلمرپرستش هم کیده ، اوغوره معابدئی در لودل دچین لوی ګرزیدونکی (هیوان تسنګ) د میلادی (۷) قرن په‌نیمائی کښې‌ډیرهمنیان چه‌په‌ایروبه‌ئی‌ځانونه ککړوود(کاپیسی) په‌ښار اوسنی بګرام کی لیدلی‌وو اوددوی دمعابدو نکلونه‌ئی کړی‌دی دادین، دهجری په دریم‌قرن کی‌چه د میلادی (۹) قرن سره‌برابردی په افغانستان کښې موجود ؤ او وروستنی ځای ئی دهیواد دجنوب‌خواوه اودکابل دبرهمن شاهانو سره د صفاریانو په‌جنګونو کښې دمملکت‌دجنوب‌څخه وایسته شو اوغزنویانوئې وروستی برخی‌هم دلغمان‌اوجلال‌آباد دسیموڅخه لرې‌کړلی .

## عیسوی نستوری مذهب : دمسیحی‌دریم‌قرن په‌آخراودځلرم

قرن په‌اول کښې‌نستوریس Nestorius دقسطنطنیې دروحانیونو رئیس په‌مسیحی‌دین کی یونوی‌مذهب پیدا کړ ،نوموړی داعقیده درلودله چه‌حضرت مسیح(ع) دبشری شخصیت‌خاوند اودالوهیت دمقام‌خاوندؤ دده‌نظریات عیسوی‌مرکزونو دنظریاتوڅخه ډیل اومخالف‌وو، اود (تفزTephese ) د مجلس په‌اثر په٤۳۱ کښې مردودشو اودقسطنطنیې دروحانیونو ریاست‌ځنې سلب‌شو ، دې سرې دخپلوطرفدارانو سره په‌بغداد،موصل اوشام کښې دخپلو عقایدو دخپرولو بنا کښېښودله، او ددوی نظریاتو په‌ساسانی فارس کښې نفوذپیدا کړ دوم شاپور پیر نستوریان مړه کړل خولومړی یزدګرد دذوی‌عقیده آزاده پریښودله خوبیافیروز ددوی‌سره مخالف‌شو مګر ددوی عقیده پوره مضمحله نه‌شوه ددوی عقائد دفارس‌څخه دافغانستان و خواته راغلل‌دنستوریانو اصلی‌هدف په‌مرکزی اشیا اوهندوستان کښې دخپلی‌عقیدی خپرولؤ هغه‌ته دبحر دلاری‌هم راتلای‌شوای خودمرکزی‌آسیا دپاره دوی مجبور شول چه دافغانستان د شمالی خواڅخه تقریبا دوریښمودهغی‌لاری څخه چه‌دچین وخواته تللی‌وه لار پیدا کړی په‌دې‌ډول سره دنستوری عقیدی د هندوکش په شمالی خواوو کښې رواج پیدا کړ ، اوپه‌هغو برخو کښې‌ئی‌پیروان هم‌پیدا کړل خو دافغانستان مرکزی اوجنوبی برخی مصو نی پاتې شوې ځینې‌وائی چه نصرانیت (۱۵۰) کاله د حضرت مسیح ترمرګ، وروسته دفارس دلاری‌څخه دباختر وخواته راغلی‌دی خودادعا مونږ ثابتولای نه‌شو خوپه هر حال دنستوری مذهب راتلل دافغانستان وشمالی خواوته یومسلم شی باله کیږی دنستوری مذهب‌لوی‌مرکزونه په افغانسنان کښې‌هرات‌اوبلخ‌دی په‌مروواو سمرقند کښې‌ئې‌هم‌ښه‌اهمیت‌درلودداډول‌منابع‌هم شته‌چه وروسته‌له (۳۳٤)مسیحی کال نه‌دنستوری(اوکانو)Evepues لهموجودیت‌څخه په‌هرات کښې‌خبری کوی‌اود(٥٤۰)او(٥٥۰)څخه‌وروسته‌داوکانو او نستوری کلیسا ګانوموجودیت ته‌په‌هرات او بلخ کښې اشاره‌شوی

اوداحال دمسیحی ۱٤ قرن پوری پاته وٴ، څـکه (مارکوپولو) په‌خپل مسافرت کښې په‌هرات او دافغانستان په‌شمالی برخو کښې نستوری مسیحیت منی په‌همدې‌دول سره داسلام مبارك دین چه په حجاز کښې پیدا شو او د افغانستان و سرحدا تو ته راغی بودائی ، زر تشتی ، بر همنی لمر پر ستش ، او مسیحی نستوری‌دین په افغانستان کښې وو داسلام د مقدس دین مبلغین، په‌شمال‌غربی خواو کښې د نستوریانو اوپه غربی بر خو کښې د زردشتیانو اوپه‌جنوب‌غربی‌اوپه جنوبی خواکښې دلمر پرستانو اوپه‌ټورو برخو کښې دبودائیانوسره پەمقابله کښې وواوپه‌پیره کراره اوورو، ورو ورو دینونو لمنی ټولی شولی او توحید داسلام دمبارك دین په‌مرسته دهغوځای ونیو .

## ۸ - په افغانستان کښې کرهنه :

څرنګه چه ثابته شوې‌ده انسان دخپل محیط مولوددی دژوند طرز، دودونه ، عادات ، خصائل؛ صفات حتی اعمال اوحرکات ټول‌دهغه‌محیط دطبعی خصوصیاتو سره پەر تعلق‌لری، چه‌دی‌ژوندپکښې کوی . څرنګه چه ټولنه دافرادو څخه جوړه شوې‌ده نوداویل کیدای‌شی چه هغه عادات اودژوند خصوصیات اواعمال چه یوه ټولنه ئې لری هم دهغه محیط دخصوصیاتو اوشرائطو څخه ناشی‌وی . نو همداسبب دی چه که مونږ همدغه محیطی او طبعی شرائط اوخصوصیات و گورو نو ویلای شوچه افغانستان یوزراعتی مملکت دی دافغانستان په‌شمال او جنوب کښې خورا لوی لوی سیدا تونه او پ گرونه شته چه که دا ټول د کرهنی و پ شی افغانستان به داقتصاد له‌مخی خورا لوی‌دول ولوبوی د شمالی خوا دغرونو دسلسلې لوړ والی د (۳) څخه تر (۵) زرو متر و پوری‌رسیږی، اودجنوب د آخرنی‌خوا دغرونو سلسله تر (۲) زرو مترو پوری رسیږی چه د همدې دوا پو سلسلو غرونو په مینځ کښې‌خورا لویی اوپراخی بیدیا گانی شته چه بې کرهنې پرتې دی، او(٦۰۰) مترە لوړ والی لری . ددې‌شمالی غرونو څخه خورا پەر لوی غر د هندو کش دغرونو سلسله ده، چه دشمال شرق څخه ترجنوب غرب پوری (٦۰۰) کیلو متره اوږدوالی لری، سرئې پامیر اوآخرئې بامیان دی . اویو څو غابنو (کوتلونو) دهندو کش پرسردلاروامکان پیدا کړی‌دی ، چه دشرق څخه دغرب وخواته د« کچن » غابنی (٦۹۰۰) متره، اودنو کزین غابنی (۵۰۵۰) متره اودخاواك غابنی (۳٦۰۰) متره اودآق رباط غابنی (۳٦۰۰) متره دی . او دهندو کش دجنوب وخواته دنورستان دغرونو سرونه د ۳ څخه تر (۵) زرو مترو پوری‌لوړ دی، اودهندو کش غربی‌خواته یوه سلسله نور غرونه هم شته چه شرقاً او غرباً موازی پراته دی، او دهزاره جات غرونه دبلخ اومیمنی جنوبی خوا ته پراته دی . اویوبل‌غر هم‌شته دی چه شرقاً اوغرباً تللی او(۲۰۰) کیلو متره اوږدوالی لری. اود «زنګیلك» دخوکی څخه و هغی خواته دقره جنګل شوکه ده چه ایرانی سر حد سره (۲۹۸۵) متره لوړوالی لری. دفیروز کوه غرچه‌سمدم دجنوب وخواته پروت دی اویوښاخ ئی دهریرود په جنوبی خوا کښې دی چه دسپین غره پنامه یادیږی . اوداهغه سپین غر دی چه د هیواد په‌شرق کښې پروت دی. دفیروزکوه دغره پەره‌لوړه څو که (۳۱٦۰) متره ارتفاع لری. اودباباغردفیروز کوه‌دغره‌اوهندو کش دغره تر منځ (۲۰۰) کیلو متره او زد والی (٤) زره متره لوړوالی لری . دپارو پامیزاد غرونه هم د افغانستان دلوړو غرونو څخه‌دی چه‌په شمال غرب کښې د ایران اوروس دسر حد دار تباط برخه بللهٔ کیږی او (۲۵۰۰) متره لوړ والی‌لری . دهزاره‌جات غرونه چه دافغانستان دمرکزی غرونو څخه بـا له کیږی (٤) زره متره ار تفا ع لری . سپین غر هغه غردی چه‌په پر صحیح صورت سره زیات څنګلونه لری . او د هیواد په شرقی خوا کښې پروت‌دی او (۱۵۰) کیلو متره اوږدوالی . لری اوخو کی‌ټې‌تر(۵)زرومترو پوری‌لوړوالی لری. د«سیکارم» څوکه (٤۷۳۳) متره لوړه ده . داغرونه هروخت په واوروپټ وی، نوپه همدې سبب په‌سپین غره سره مشهور شوی دی دسپین غره په‌جنوب کښې‌دسلیمان‌غردی چه‌شمالا اوجنوبا د بلوچستان وخواته تللی دی . دجنوبی خوا وغرونه‌چندان داهمیت وړنه‌دی دچګای غر د بلو چستان او افغانستان په منځ کی پروت دی او(۱۵۰) کیلو متره اوږدوالی‌لری او (۵۰) کیلومتره پلنوالی لری،لوړه‌څوکه ئی تیرزن‌ده چه (۲۳۰۰) متره لوړ والی‌لری. دغرونو سلسلی ئی له‌دې کبله‌بیان‌شوی چه د افغانستان پرزراعتی چاروئې‌اثر اچولی‌دی اودافغانستان اوبه اوهواته‌ئی غوره‌تغیر ورکړی‌دی. زموږ‌مملکت‌چه‌یوغرنی ملك بلل کیږی لوړوالی دهواواو بواودزراعتی‌سیمو یولوی‌عامل بلل کیږی‌اودعرض‌البلد اوطول‌البلد اثرات داوبو اوهوا په‌تعین اوتشخیص کښې‌په‌دوهمه درجه کښې واقع شوی دی، په همدې‌سبب دمملکت په‌ویشلو کښې چه پرزراعتی مناطقو و یشل کیږی ارتفا ع اولوړوالی بنسټ شمیرل کیږی، اودهمدې لوړوالی لـه مخی د افغانستان منطقې پرلاندینیو شپږو برخو ویشل شوی دی، چه هره برخه ئی خپل خصوصیات اونباتات لری .

الف : غرنی برخی ئې چه سره او یامعتدله هوا لری او د (دوبی اوزمی) موسمونه یی ښکاره توپیرسره لری په لاندی ډول ښودلی کیږی .

۱ - دلوړو غرونو برخی چه‌نسبت دبحروسطحی‌ته(۲٤۰۰) متره لوړی‌دی‌دژمی‌موسم‌ئې‌د(۷) څخه‌تر(۹) میاشتو پوری وی، چه دا دهزاره جات برخی اویوه برخه دبدخشان اود هندو کش لوړی برخی دی په دې برخه کښې د پسرلی غلو کرهنه لکه

(غنم، اوربشی، جو در) کیږی، او اکثراً آبی وی . ډېری لوړی برخی دپامیر ددښتو داوبو او هوا خواص لری .

۲ ـ هغه برخه چه متعدله هوالرۍ او د ۱۳۰۰ څخه تر ۲۴۰۰ مترو پوری ارتفاع لری ، کابل او غزنی دی په کابل کښی کلنی باران (۲۷۵) میلیمتره‌دی دا اندازه په آبی کښت غنمو او اوربشو پوری خاصه شوې ده .

ب ـ لږه ارتفاع لرونکی میدانی برخی، چه دلوړی غرنیو برخی متصاد اومقابلی بللی کیږی او (۹۰۰) متره ارتفاع لری دادی :

۱ ـ دښتی بی اوبو برخی ، چه‌هرکال تر (۲۵۰) ملیمترو څخه لږباران‌پکښی اوری، اودتودوخی‌درجه ئې ددوبی په‌میاشتو کښی لوړیږی اوپه‌نو رو میاشتو کښی ئی د تودوخی درجه تر ۲۵ پوری‌رسیږی،( چه دتوخی آخرنیو درجه ئی په‌سرطان او اسد کښی د۳۰ څخه تر۴۰ پو ری هم رسیږی) او په ژمی په (جدی) کښی شو درجې ترصفر کښته وی ، لکه څرنګه چه په بغرا کښی لیدل شوی‌ده ، دجدی په میاشت کښی ساړه شوورځی وی، اودتوخه تر(۸) درجو تحت‌الصفر وی .

۲ـ ستپی برخی : یعنی هغه برخی چه ډیر واښه لری لکه دمیمنی ، مزارشریف اودکشك جنوبی سیمه او د قطغن ځینی برخی چه‌دوبی یی تود دی اودتودوالی منځنی‌درجه‌یی په تودو روڅو کښې تر ۲۵ درجو پورته وی اوللمی ، غنم ، جواری ، اوربشی ، ډدن ، میږ پکښی کیږی او خټکی او هندوانی هم یکښی کرل کیږی او ددغو برخو باران او لندوالی ډیر دی .

۳ـ دجلال‌آباد هواری مځکی ، چه‌دحاري منطقی ترتاثیر لاندی راغلی دی اونسبتاً لنده هوالری .

(ج) هغه‌متوسطی‌برخی‌چه دغرنیو اومیدانی کښتو متضادو برخو په‌منځ کښی‌دی او ارتفاع ئې د (۹۰۰) څخه‌تر(۱۳۰۰) مترو پوری ده په‌لاندی ډول دی :

۱ـ هغه دښتی برخی چه‌په هغو کښی ډیر لږ باران اوری ، (چه‌تر ۲۵۰ ملیمترو لږ وی) اوژمی ئی نسبتاً سوړ وی لکه قندهار اوهرات چه هوایی وچه‌ده ، اوپه ځلیرویشت ساعتو کښی ئی حرارت تغیر کوی . د قندهار د کلنی باران اندازه تقریباً (۱۵۰) ملیمتره ده اودخاوری‌دترکیب‌په‌لحاظ ئی‌دباران‌لږوالی له کبله نباتی عضوی موادخورا لږ دی.(هوموس Humus)چه دحموضیت مولددی خورا لږ پیدا کیږی ، کومی نمونی‌خاوری چه‌دقندهار ،هرات، کابل ، قلات، اوفراه اوبدخشان دی‌اوتجزیه شوی‌دی خیل‌الکلینی‌خاصیت اولوړه‌درجه‌ئی H . P ثابته کړی‌ده، اودریګ اورس څخه‌ځینی وختونه‌دمټ دقوی‌خاوری څخه‌مرکبه وی. اواکثراً دمیده‌ریګ اورس‌یامیده‌ریګ‌اوآهك‌څخه‌دی چه ساروجی‌ریک دی، اومالګینی ځمکی‌ته‌میلان‌لری. په‌کوم‌اساس سره چه‌پخواتردی د لوړو ځایونو اودهغود رول په باب کی‌چه د آب و هوا په تبدل کښی ئی‌لری وویل‌شول ، هند و کش چه دافغانستان له‌لوړو غرونو څخه دی دافغانستان پر کښت مهم اثر اچوی او هغه شنپلی چه په‌همدی‌سلسلی‌غرونو کښی دی‌دهغه دلوړوځایو دنقطه‌نظره واقع‌شوی‌دی چه په هغه اساس اختلاف سره لری ، لکه چه د هغه په‌جنوبی خواو کښی چه‌لیدل کیږی دا تناسب‌دتنوع په‌اساس‌چه د ارتفاع له‌املې دی دنباتی نو عیت له رویه په‌لاندی ډول‌ښودل کیږی :

په۳۴۸۰ کښی تر ۳۴۰۰متره ارتفاع کښې اوربشی.

په۳۳۰۰ متره ارتفاع کښی دپسرلی‌غنم ، نخود اوپسرلنیو اوربشی .

په۳۱۰۰ متره ارتفاع کښې مشنګ ، نسك ، باغلی

په۳۰۰۰متره ارتفاع کښی شرشم ، کلول ، رشقه ( درشقی تخم په۲۳۰۰او ۲۴۰۰متره ارتفاع کښی پخیږی.)

په ۲۸۴۰ او۲۴۹۰ متره کښی زردالو ( تریاك په ۲۸۴۰ متره ارتفاع کښی )

په۲۸۰۰ متره‌ارتفاع کښې مشنګ او دژمی غنم شو تل او اوربشی چه تخم‌ئی د۲۵۰۰ څخه تر ۲۶۰۰ متره ارتفاع پوری پخیږی .

په ۲۶۵۰ متره‌ارتفاع کښی تري،زردکی،چمبرخیال‌اوټیپر .

په۲۶۱۰ متره ارتفاع کښی معمولی ډدن او ایطا لوی ډدن.

په ۲۶۰۰ متره‌ارتفاع کښی تمباکو، کچالو،

په ۲۵۸۰ متره ارتفاع کښی کلك جواری

په ۲۵۲۰ متره‌ارتفاع کښی کالند اولافیو نالس Calenduia offiunalis

په ۲۵۰۰ ارتفاع کښی دمښو نی(په‌دی‌ارتفاع کښی‌مښی میوه‌نه‌نیسی‌خودمښوونی‌لیدلی کیږی)

په ۲۴۵۰ متره‌ارتفاع کښی معمولی جوز ارنور ډولونه ټې

په ۲۴۱۰ متره‌ارتفاع کښی کډو او ریمه او صراحی کډو ،

په ۲۴۰۰ متره‌ارتفاع کښی خټکی ،

په ۳۳۶۵ متره‌ارتفاع کښی بادام،شفتالو ، توت، کافرګل ،

په ۲۲۵۰ متره‌ارتفاع کښی تاك اودمځکی توت،

په ۲۱۸۵ متره‌ارتفاع کښی میږ

په ۲۱۶۵ متره‌ارتفاع کښی سنځلی

په ۲۱۰۰ متره ارتفاع کښې دالوونی‌او دانګو رو تاکونه ،

په ۱۹۵۰ متره ارتفاع کښی انار،

په ۱۹۲۵ متره ارتفاع کښی دولانه ،ناك

په ۱۹۰۰ متره ارتفاع کښی کنځلی،

په ۱۷۸۰ متره ارتفاع کښی ترایی،پنجه چنار ،

په ۱۰۷۰ متره ارتفاع کښی نارنج ، انځر ،

په ۱۰۴۰ متره ارتفاع کښی ګنی ،

په ۸۶۰ متره ارتفاع کښې خرما ،
په ۶۶۰ متره ارتفاع کښې بانکس .

دپورته طبقه بندۍ څخه داڅرګندیږي چه ارتفاع د آب وهوا په تاکلو اودمناطقو په تحدید اونباتي ویشونو کښې ډیر اثر لري ځکه حرارت چه دشنبلیو دودی لوی عامل او شرط باله کیږي دارتفاع سره لوی تعلق لري ،لکه چه معلومه شوې ده چه په معتدلو مناطقو کښې د ۱۸۰ مترو په میچ چه سړی لوړ ولاړ شی یوه سانتی ګراد دحرارت لږوالی به وګوري . او په استوائی منطقه کښې دتودوخی لږوالی په $\frac{1}{200}$ تناسب سره دی ، یعنی په هر دوه سوه متره ارتفاع کښې یوه درجه لږوالی راځی ، نوځکه دهندوکش په لوړو شوکو کښې چه پنځه زره متره ارتفاع لري نسبت وکابل ته چه ارتفاع ئې دبحر له مخې څخه ۱۷۶۰ متره ده، د ۵۰۰۰ - ۱۷۶۰ دلوړوالی تفاوت د ۳۲۴۰ متره سره مساوی دی ،اود $\frac{3240}{180} = 18$ درجې تودوخی لږوالی دومره دی یعنی دتودوخی درجه ئې نسبت وکابل ته خوا لږوی . په جلال آباد کښې بیا هم په همدی حساب چه وهند ته چه یوه نیم حاره منطقه ده اوڅرڅی ده که صرف نظر شی نو یواځی دارتفاع له نقطې نظره به ئې درجه (۷)شی ( دجلال آباد لوړوالی دبحر نه ۶۰۰ متره دی )یعنی په کابل کښې چه دتودوخی درجه ۲۵ وی په جلال آباد کښې به ۳۲ وی خو په جلال آباد کښې بل عامل چه دتودوخی شی هغه دده نڅرڅی والی دی و هندته چه هغه هم باید په نظر کښې و نیول شی نو ددې ارتفاعی تفاوت له مخې باید مناطق هم طبقه بندی شی اولمړی ټیټی اوهغه چه ارتفاع ئې لږوی په نظر کښې نیول کیږي لکه دا :

۱- د مزار شریف ولایت او شاو خوائی چه بلخ هم په هغه کښې شامل دی ځکه میدانونه دی چه د آمو درود اودهندوکش دغرونو په لمنو کښې واقع شوی دی اوارتفاع ئې دبحر ترسطحی (۳۷۷)متره لوړه ده بلخ دمزار شریف دولایت شمالی خواته دی چه ځمکې ئې شګلنی دی اولږ او به لرې اودنه کرلو یواځنی علت ئې داوبو لږوالی دی .

دبلخ په جنوب کې دسنګ چارك ناحیه واقع ده ،چه یوزر متره ارتفاع لري . دسرپل ناحیه هم دسنګ چارك غوندې زرمتر ، ارتفاع لري اوډول ډول میوه داری ونې شنې اوزر غونی درې دژویو دروزنی دپاره موجودې دی ، خصوصاً د آسانو ګلې هلته تغذیه اوروزل کیږي .

۲ ـ جلال آباد دکابل لمر ختیزی خواته واقع او دلږې ارتفاع په سبب (۶۰۰ متره دبحر له سطحی څخه ) او هند ته دنڅرڅیوالی په نسبت نیمه حاره منطقه ده . په ژمی کې ئې د تودوخی درجه د ۱۵ په حدود وکې اوپه دوبی کې له ۴۰ در جو څخه تر ۴۵ درجو پورې رسیږي په جلال آباد اولغمان کې نارنج ، لیمو ، میټه، مالټه ، چقوتره ، خرما . ګنې، سنډ، مالوچ ، وریجې ، جوار ښه حاصل ورکوی ، هغه حصه چه په جلال آباد کې واقع ده عبارت ده له هغې پراخې اوهواری اودښتې مځکې څخه چه ۶۰۰ متره لوړوالی لري اوغرب خواته ئې لوړوالی زیاتیږي او کښتی مځکې ئې لکه نمله ، فتح آباد ، سورپل اولغمان دی .

۳ ـ دهرات منطقه: هرات یوه هواره منطقه ده چه دافغانستان شمال غرب خواته واقع ده، هرخومره چه دایران دسرحد اوغرب خواته ولاړشو (دهریرود) وادی ددښتی میدانو په منځ کې ډیره ټیټه شوې ده اوپه غوریانو کې ۸۱۶ مترو او په ذوالفقار کې ئې ۵۳۰ متروته جګوالی رسیږي.دغوریانو په خوا اوشاکې مځکه مالګینه ده اومالګینې ډنډۍ هلته پیدا کیږي چه له هغو څخه مالګه راباسی ، داهمالګینې مځکې دنمکزار په مخصوص نوم یادیږي او ددې برعکس مشرقی اوشمال شرقی سیمې نسبتاً غرنۍ دی. دهرات شمالی خوا (غورات)دبادغیساتو غونډۍ لرونکی برخې دی چه دپستې دښتګلو نو څخه ډکې دی او خورا ښه طبیعی مواتع او ورشو ګانې لري . دهرات جنوبی خوا یعنی دشین ډنډاو ادرسکن مځکې اونور میدانونه دهرات دښار خورا سمسورې اوزراعتی مځکې دی اوډیر باغونه لري ، اودهغه ودانی سیمې دی اود سمندر له سطحی څخه ۹۲۰ متره جګوالی لري .

جنوب اوجنوب غرب : لکه وړاندې چه وویل شو دشمال او جنوب دوې جګې غرنۍ منطقې دلوړی دښتی سطحی پواسطه سره جلا شوی دی . دغه لوړه دښتی سطحه دشمال نه دغرب خواته (۱۵۰) زره کیلومتره مربع پرتې ده اود هلمند سیند ئې په دوو برخو ویشلې دی دسیند د شرقی خوا برخه ریګستان بلل کیږي اوغربی برخه ئې د (مارکواو سیستان) دښته ده ددغو منځنیو میدانو دشمال غرب خواته د(هامون هلمند، ګو دزرې) غدیرونه دی چه او به ئې تروړې دی . ددغو غدیر لرونکو ځایو لوړوالی(۵۱۰) متره دی سیستان په پخوا زمانو کښې (دساسانیانو او دوروستیو عباسی خلفاؤ په زمانه کښې ) ډیر ودان اوزرغون او خوروسته دچنګیز له وحشته ډکو او سفاکانه حملو او دتیمور او نورو له یرغلو څخه چه داوبو لګو لو او و دا نۍ سرچینې او لاړې یې ړنګې اووراني کړې، خلك ئې یاووژل شول، اویا وتښتیدل نودصحرا شګو ودان ښارلاندې کړ، اوس دهلمند په دواړو غاړو اودهغه په شاوخوا ځایو کښې پرته له فراه او ځولرۍ لرې خپرو کلیو څخه دتیر تمدن او پخوانیو ښارو اثر نه لیدل کیږي ټولې دغه هوارې اوټیټې ځمکې له یوه فیز یکی تیپ څخه جوړې شوی دی اودښته شګلنه او وړې وړې ټبې لرې په ځینو ځایو کښې لاندنۍ طبقه ئې آهکی کلك موادلري چه له شګو اوډبرو سره ایشیدلی ده اود(کانګلومیرا) په نامه

بلل کېږی دلوړواوژرو له کتلونه وروسته چه دزراعتی مناطقو په ویشونو کښې ډیر اهمیت لری هغه بل څیزچه باید دتـوجه مورد وګرزی، هغه هم اوبه، اوداوبو دتقسیماتو منابع اودابو لـګولو اصول دی دمرکزی ایشیا په مملکتو کښی چه پراخی ځمکې لری اودسیند (بحر) دلری والی له کـبله ئی خصوصیات بری دی ، د زراعت ( کـرهنـې ) دپـراختیا اوانکشاف ډیر مهم عامل اوبه دی، او که وغوښتل شی پدغو منطقو کښې چه افغانستان هم پکې شامل دی زراعت پراخ اوبز ګران ، تقویه شی، نوباید له هرڅه لومړی داوبو په موضوع باندې دقت او پاملرنه وشی، ځکه که چیرته لومړی ونورو زراعتی شقو توته پاملرنه وشی اوداوبو موضوع په دوهمه مرحله کښې و ګـڼله شی نوپه زړه پورې نتیجه به ورنکړی مونږباید دزراعتی منطقو دتقسیماتو اودلوړوالی (ارتفاع) دموضوع له کتنې څخه وروسته داوبو منابع ترکتنی لاندی ونیسوافغانستان لکه توله مرکزی ایشیا دداسی خواصو لرونکی منطقه ده چه دمجری حوضه نه لری. یعنی بی دکابل دسیند نه چه اوبه ئی په (بحر) کښې تو ئیږی تقریباً نور ټول سیندونه په مملکت کښې د ننه ځکو کښې جذ ییږی اودبحر خواته لاره نه لری . دافغانستان مشهور سیندونه دادی: دآموسیند، دمرغاب سیند، هریرود، دکابل سیند، هلمند، ارغنداب دغـور بنـد سیـنـد د پنجـشیـر سـیـند ، د انـدراب سیـنـد، دسرخ آب سیند. دآمو سیند منبع له پامیره، اودنورو سیندونو منبع د (هزاره جات) مرکزی غرونو اوهندوکش څخه سرچشمه اخلی . دکابل سیندیواځنی سیند دی چه اوبه ئی پـه بحر کښی توئیږی، دکابل سیند ٤٦٠ کیلو متره اوږدوالی لری ، او د اباسندیو مرستیال دی . دغه سیند دبابـا دغرو له سلسلی څخه (هزاره جات) یعنی د (اونی) له درې څخه چه ٢٧٥٠ متره لوړوالی لری منبع اخیستې اوله غرب نه دشرق خواته روان دی ،ددغه سیند،دسرچینې اودکابل ترمنځ واټن (فاصله) (١٠٠) کیلو متره دی اوددغه سیند دمنبع لوړوالی نسبت دکابل لوړوالی ته، زرو مترو ته، رسیږی، پخپله کابل دبحر له سطحی څخه ( ١٧٦٠ متره لوړدی) ددغه راده وسطی مجری دکابل له شاوخوا شروع شوې ده اوله تنګ غارو، دسروبی له میدانه ، لغمان او درونټی څخه تېریږی، اوجلال آباد ته ور داخلیږی، ( جلال آباد دبحر له سطحی څخه ٦٢١ متره لوړوالی لری) دکابل اوجلال آبـاد ترمنځ نور مرستیال رودونه لکه دلوګر سیندله ښې غاړې اودپنجشیر اوالیشنګ او کنړ سندونه له کیټی خوا دکابل په سیندور ګـډ ږی اودهغه اوبه ډیروی دکابل دسیندښکته مجری جلال آباد ته نژدی شروع کېږی، اودکابل اودا باسند دسیندو دیو ځای کیدو په ځای کښی ختمیږی له جلال آبـاد څخه دلال پورې تر تنګی پورې چه ٤٣٠ متره لوړوالی لری دکابل سیند تقریباً په دښته

ځمکه کښې تېریږی اودهغه په غاړه داوبو واښه لکه لوخی ، اونل، ولاړدی دلال پوری څخه دپښور ډګرته ورداخلیږی او اوداټک په حدکښی چه ٢٧١ متره لوړوالی لری د سند راده ته ورګډیږی په داسی حال کښی چه دکابل د سیند پاسنی مجرا په دوبی کښی وچه اوشاړه ده، منځنی اوښکتنی مجرائی دخپلو مرستیالو رودو په سبب لـکه دکـنړ، الیشنګ، سوات او نورو سیندونو له کـبله داوبو څخه ډکه وی، اواوبه ئی ډیر یـږی ، دکابل دسیند داوبو دډیریدو موسم د ثور میاشت ده یعنی کوم مهال چه بارانونه کیږی اوواورې ویلی شی مګر په دو بـی کښې کله کله اوبه نه پکې لیدلې کیږی .

بې مجرا حوضی :

١ ـ دآموسیند : دآموسیند اته سوه متره او زد دمملـکت شمالی سرحد تشکیل کړی دی اومنبع ئې دپامیر لوړه سطحه ده چه دبحر له سطحې نه ځلور زره متره لو ړه ده دغه سیند په ډیره چټکی سره دشمال مشرق نه دجنوب مغـرب خـواته د (آب پنج) په نامه تر اشکـا شم ( ٢٧٠٠ متره لوړ ) پـورې بهیږی بیا یوځل دشمال خواته ګرځی اوله بدخشان نه تېریږی اوبیرته دجنوب خواته میلان کوی دغه ټولی برخې غرنیز او ډبرینی دی اودبدخشان تر بندو دوبورې تنګـې دی . منځنیز لاره ئې جیحون هم بلله کیږی . دآمو سیند چه د افغانستان اوروسیی تـر منځ بیلوونکی خط دی تقریباً دشرق نه غرب ته بهیږی، دجنوب خوا ته ئې بلـخ دی چـه دچنـګیز اوده داولادې دجـګـړو او ظلمو نـو په اثر په یوه دښت بدل شوی دی او آب او هـوا ئی تغـیر کړی دی اودملاریاله پاره ئې زمینه برابره کړې ده دآموسیند له هغه وروسته دشمال غرب خواته کـږیږی اولـه د بښې میدانو اودقراقرم له دښتی اوځمکو څخه تېریږی اود ( اورال) په سند کښې ګډیږی د آمو دسیند جنوبی خواته څونهرونه (لوئی ویالې) لیدلی کیږی اوبیله هغه چه له هغه سره یوځای شی هغې خواته بهیږی . ددغو ویالو اوبه په شا وخواشګو کښی ورکیږی له دغو ویالونه یوه ئی آب بلخ ده چه دبلخ په شاړو ځمکو کښې ورکیږی او بله ئی آب سفید اودقیسار او به دی چه له اندخوی څخه وځی هغه مرستیال چه له کین ساحل نه دآمو په سند کښې توئیږی یوئې دکوکچې سیندی چه په بدخشان کښې لـګیږی اوبل ئې دقندز سیندی چه دهغه ناوه بدخشان له قطغن نه بیلوی .

مرغاب: دمرغاب سیند (٦٠٠) کیلو متره اوږد دی منبع ئی فیروز کوه دی، دغه سیند دفیروز کـوه اود تیـر بند تـر منځ بهیږی اوبیاناڅاپه دشمال خواته ګرځی او په بالا مرغاب کښې په افغانی سرحد کښی تېریږی اودمروې په دښته کښی غا ئبیږی

هریرود: دهریرودسند (۸۵۰) کیلومتره اوزددی اوخپله منبع دهزاره‌جات لهشرق نهاخلی‌دهریرود سیند دشرق نه دغرب خواته بهیبزی او (۵۰۰) کیلومتره په اوزدو دهرات په میدانو لګیبزی دروسیی لهسرحدنه پهفاصل‌حد کښې‌پهذوالفقار نومی ځای کښې‌تهریبزی اود(تجن) پهدښته کښې ور کیبزی .

هلمند: دهلمند دسیندمنبع دهزاره‌جات د سنګلاخ نه شروع کیبزی اودهغه‌منبع دکابل‌دسیند منبع‌ته نژدې‌ده او دهزاره جات لهغربنیو برخونه تهریبزی اوله‌شمال‌شرق نه‌دجنوب غرب خواته بهیبزی اودجنوب‌غربی دښتی ځمکوخواته یعنی دګرشك اوبغرا خواته میلان کوی یوځه دجنوب ګرشك خواته د ارغنداب سیند هلمندته‌داخلیبزی دهغه‌اوبه‌پیروی دهلمند سیند یوزر کیلو متره اوزددی هلمنددافغانستان ډیرمهم‌اولوئ جنوبی سیندی اودبغرا نهر لههمدې‌ځایه منبع‌اخلی دهلمند سیند په دښتی ځمکو کښې تهریبزی اودهلمند پههامون کښې توئیبزی .

داندراب سرخ‌آب ،پنجشیر او غوربند سیندونه .

دغه‌ځلور سیندو دهندو کش په‌شا وخوا کښې ځلوردرې تشکیل کړی‌دی چه داندراب دره ،دسرخ‌آب‌دره ، دپنجشیردره اودغوربند دره نومیبزی دشمال مشرق خواته داندراب دره دشمال‌غرب خواته دسرخ آب دره دجنوب مشرق‌خواته دپنجشیر دره ، دجنوب‌مغرب خواته دغوربند دره‌ده . دغه‌ځلور سیندونه چه‌په‌ځلورو مهمو درو کښې بهیبزی اوبه‌ئې په ډیرو کلیو اواولسونو کښې لګیبزی اوبه‌ئې ډیری‌خوزې اوخوندوری‌دی چه دواورونه ر اښکته کیبزی .لاکن نور کمکی‌سیندونه چه دمرستیالو په‌ډول پکې‌راتوئیبزی اکثرئې دائمی اوبه نه‌لری .

دغوربند سیند: دغوربند سیند چه‌دهندوکش په‌جنوب غرب کښې دی منبع‌ئې دشبر دغاښې دشرق نه چه ۳۲۰۰متره‌لوړدی شروع کیبزی دغوربند سیند اتیا کیلومتره اوزد دغرب له‌خوا دشمال شرق خواته دهندوکش دغره اودپغمان د غرو ترمنځ بهیبزی اوله‌هغه وروسته کوهدامن‌ته رانښتی اودجنوب شرقی خواته میلان کوی اودعبدالله‌برج‌په برخه کښې د پنجشیر له سیند سره یوځای کیبزی ،دغوربند دسیند د مرستیالو منبع هم له‌هندوکش نه شروع کیبزی اومهم ئې دجبل‌السراج سیند دی چه‌له سالنګ نه راځی دغوربند سیند ډیر کلی او به کوی اودونو اوباغودپاره ئې ډیره فائده کړې ده لکه فرنجل ددوآب قلا، چهاردهی غوربند ،سیاه‌گرد ،میرعلم ،برج ګلجان اونورټول همدا اوبه لګوی دغوربند دره دمیوو لرو نکو باغوله‌املې پهتیره بیا دخپلو بادامو له کبله ډیر شهرت لری سربیره پهدې پهدغه ځای کښې چار مغز، مڼې ، انګور، زردالو اوتوت هم شته . دشبر دغاښې پهغرب کښې چه دهندوکش وروستیږ غربی برخه‌ده یوځو نورغاښې هم شته پهدغه ځای کښې دهندوکش سور له ځلوینټو کیلومترونه زیات نه دی اوله هغه نه‌دپیلو، آق‌رباط (چه۳۶۰۰مترلوړدی)اوددندان‌شکن‌دغاښو په واسطه‌خلك‌تیریبزی‌ددندان شکن‌غاښې (۲۷۰۰) متره لوړ دی‌دشبردجنوب خواته‌دشبز سیند دشرق‌نه د غرب خواته بهیبزی اودبامیانو له‌سیندسره چه دغرب له خوا راځی یو ځای کیبزی بیادشمال خواته یعنی دسرخ‌آب ځی .

دسرخ‌آب سیند: له غرب‌نه دشمال شرق وخواته بهیبزی اود هند وکش غر دمزار دولایت‌له‌لوړو غونډو یوځخه بیلوی دسرخ‌آب سیند پهلومړی کې کم سورلری په کهمرد: باجګاه اودوآب میخزرین کښې توئیبزی له‌هغه وروسته برفك‌ته نژدې جبه‌زار صورت غوره کوی اوله‌هغه وروسته له برفك نه (چه ۱۱۵۰متره لوړوالی‌لری) تهریبزی اوپه شاړو ځمکو اومیدانو کښې درومی اوددوشی په برخه کښې د اندراب له‌سیند سره یوځای کیبزی دسرخ آب دسیند ښیږ خواته ، سیغان آب دبامیانودسیندله‌اوبوځخه‌پراخیبزی‌او پخوا موویل چه‌داندراب له‌سیند سره ددوشی په‌برخه کښې ګډیبزی .

د اندراب سیند : داندراب سیند هند وکش د بدخشان له منطقې‌څخه بیلوی‌اومنبع ئې دخاوك له کوتل نه‌چه۳۶۰۰متره لوړدی اخیستی ده دغه‌دره لوړه‌ده اود سمندان ترحد پورې دویالې په‌ډول په‌چټکی‌سره بهیبزی‌له‌سمندان‌نه‌وروسته پراخیبزی اودشرق له‌خوادغرب خواته بهیبزی او پرله پسې اندراب ، بنو دښت امرود، خنجان او ګزن اوبه کوی ددو شیږ په برخه کښې داندراب سیند دسرخ آب له سیند سره یو ځای کیبزی د د غو دووسیندو له یوځای کیدونه دقندز سیندجوړیبزی چه د شمال خواته بهیبزی اودآمو په‌سیند کښې‌توئیبزی .

دپنجشیرسیند : دغه‌دره دهندوکش او نورستان په‌منځکښې ده اودخاوك له‌غاښې‌نه‌تر کوهدامن پورې دوام لری دپنجشیر سیند لږ سور لری اواوبه‌ئې تندې‌دی اولږ کلی اوبوی چه له هغو نه مرادسفید څیر ، دواب،بازارك ، اناباغ او ګلباغ دی. دپنجشیر سیندچه‌تردغه ځایه پورې د جنوب غرب خواته بهیبزی دجنوب خواته کښیبزی او کوهدامن ته نژدې د غوربند له‌سیند سره یوځای کیبزی اوپه‌سروبی کښې‌دکابل په‌سیند کښې‌توئیبزی. لکه چه‌معلومیبزی‌تقریباًدافغانستان‌تول‌سیندونه دلوړوغرو‌څخه شروع کیبزی‌نوهمداده‌چه‌اکثرئې چټك درومی‌اوداوبو په‌اندازه کښې ئې تغیر پیښیبزی‌اوپه دوبی کښې کمیبزی په کوم کال کښې چه واوره ډیره وی دسیند واوبه‌هم ډیرې‌وی په‌هغه کال‌چه‌واوره کمه‌وی ددغوسیندو اوبه هم کمیبزی اود اوبو دکموالی له‌املې کښې‌توته زیان‌رسیبزی لکه چه‌پخوا موویل یوالی دکابل‌سیند

دبحر خواتەخارجی لاره لری چه هیدرو گرافی حوزەئې $\frac{11}{100}$ -

دەاونور ئې $\frac{89}{100}$ رقبه بحرته خارجیلاره نەلرې اوبەئې یاپه افغانستان کښې دننه ورکیږی اویا په گاونډو مملکتو کښې غیبیږی . ددغوسیندونوداوبو تخلیه پەثانیه کښېدموسم لەمخې تغیر کوی . دامو دسیند دیبت په۱۳۳۹ کال کښې(۹۷۰) مترە مکعبه وه لاکن‌داوبواندازه پەیوەثانیه کښې چه بهیږی دموقع‌او ځای لەسخې تغیرمومی ددغه سیندډیبت ( یعنی په یوه ثانیه کښې تخلیه ) چهار جوی تەنژدې د ۱۹۳۹کال‌دستمبر په میاشت کښې څه ناڅه ۳۰۰۰ مترەمکعبه ۋدکوکچی‌دسیند دیبت په۱۹۳۹کال دستمبرپه نیمائی کښې‌خواجه‌غارتەنژدی څه‌ناڅه ۱٦۸ مترمکعبه‌و خوددغه سیند داوبو دتخلیې اندازه دځای اووخت له مخې تغیر کوی دهیرمنددسینداوبەد ۱۸۸۵ کال‌پەپسرلی کښې پەیوەثانیه کښې (۵۷۰۰)مترمکعبه اود۱۹۰۳کال‌پەپسرلی کښې (۱۹۸۰) متر مکعبەوې دقندز دسیندډیبت د۱۹٤۰ کال د نومبر پەمیاشت کښې پەیوه ثانیه کښې (۱۰۸) مترمکعبەوې چه کیلې تەنژدې ( پەهغه ځای کښې چه کشتی‌ر تېرېږی ) دغه آزموینەشوې ده. دکلاچی د گذر په برخه کښېد ۱۹٤۰ کال دفروری پەاومړی‌ر نیټه پەیوەثانیه‌کښې (۳۰) مترمکعبوې اوداکارداخبرەاثباتوی چەد افغانستان دسیندو اوبه دوخت اوځای له مخې تغیر کوی دتالقانو دسیند اوبه د۱۹۳۹کال دستمبر په میاشت کښې دقندز ښارته نژدې (۲٦)مترمکعبه وې دبابا دبند درود (دبلخ‌دسیند اویا بلخ آب ) دیبت دشفاچینې تەنژدې د ۱۹۳۹ کال‌دستمبرپه میاشت کښې پەیوه ثانیه کښې (۲۰) متر مکعبه وې چه دسیند په رانښکته برخه کښې کښتلی شوی‌دی حال‌داچه داوبو دډیریدو پەوخت کښې پەیوه ثانیه کښې (۷۵۰) مترمکعبه تاکل شوی‌دی دنورو کمکیوسیندو اوبه‌لکه‌خلم‌په ۱۹٤۰کال کښې داکتوبر پەمیاشت کښې پەیوه ثانیه کښې (۳)مترە مکعبه او دسپین‌سیند اوبه سرپل تەنژدې د۱۹٤۰ کال دنومبرپەمیاشت کښې(٤)مترە مکعبەازمویل شوی‌دی، اوگمان لری‌چه‌همدا د اوبو لنډوالی‌و چه‌په ۱٤ عیسوی پیړۍ کښې دگوډ تیمور دپاڅاهی‌ر په وخت کښې چه‌لەقندز نه دمزار شریف دپرا خواو شاړو ځمکو داوبه کولو لەیارەلوی کانال کندل شوی‌ؤ دمرغاب‌دسیند دیبت په۱۸۸٦ کال کښېداوبو ډیروالی په وخت کښې (۳٦۷) متر مکعبەوې اوداوبودلنډوالی پەوخت یواځې (۸) مترە مکعبه په یوه ثانیه کښېوی. پەهرپرود کښېداوبودتخلیې اندازەداوبودډیر والی پەوخت کښېپەیوەثانیه کښې(٦۰) مترمکعبه وې‌پەدغه سیند کښې‌هم داوبواندازه ډیرتغیر کوی‌لکه‌چه‌پەهرات کښې ددغه‌سیند اوبه‌د۱۹۳۹کال‌پەپسرلی کښې(۱۰۹)مترە مکعبه اتکل شوی‌وی اود اوبو ډیروالی پەوخت کښې چەوازمویل شوی ددغه سیند دتخلیې اند ازه (۲۰۰) مترە مکعبەوه . د هلمند سیند هم ډیر تغیر کوی لکه چه‌د۱۹۳۹ کال دثور په میاشت کښې داوبو ډیروالی پەوخت کښې گرشک‌تەنژدې‌پەیوه ثانیه کښې(٤۰۰۰) متر مکعبه وې خوددغه کال دا کتوبر دمیاشتی په پای کښې (۸۲) متر مکعبه سنجول شوې‌دی دهـ ش‌د۱۳۲۵ کال دحمل په میاشت کښې پەیوه ثانیه کښې (۳۰۰) متر مکعبه او دهمدغه‌کال دسرطان پەمیاشت کښې پەیوەثانیه کښې (۹۰)مترمکعبه سنجول شوی‌وې په۱۸۸۵م کال کښې دخپلې انتهائی اندازې داوبو خاوند و چه اندازه ئې پەیوه ثانیه کښې ( ۵۷۰۰) متر مکعبه اتکل شوې ده اوحال داچه په ۱۹۰۳ کال کښې ئې له ( ۱۹۸۰ ) مترو مکعبونه زیاتی اوبه درلودې. فراه رودد۱۹٤۱ کال دجون پەمیاشت کښې پەیوه ثانیه کښې (٤) مترە مکعبه اوبه درلودې په همدغه نیټه کښې دادرسکن سیند پەیوه ثانیه کښې (۱) مترمکعب او به درلودې دکابل سیند پەیوه ثانیه کښې (۵۰) مترمکعبه اوبه لری خو په دوبی کښې وچیږی دلوگر پەسیند کښې شیوکیوته نژدې د۱۹٤۲ کال داپریل پەمیاشت کښې څه ناڅه په یوه ثانیه کښې (٦۲) متر مکعبه اتکل شوی دی له‌پورتنیو نیومعلو ماتو نه دا ثابتیږی چه دافغانستان دسیندو اوبه نه یوا ځی دا چه دکال په بیلو بیلو موسمو کښې تغیر کوی بلکه لەیوه کال نه تربل کال پورې هم پەهغو کښې توپیرراځی . نومعلومه شوه چەددغو سیندو داوبو اندازه بیخی اقتضائی اودواوړې اوباران پەاندازه پورې تړلې ده اودغه نواقص دکال پەسرکښې دبندو اود اوبو دمخزنودجوړولو په واسطه سره‌لرې کیږی .

په افغانستان کښې داوبو بندونه :

۱ ـ دبنځاك بند : داستفادې وړیو بند دی چه کارئې سرته رسیدلی‌دی اوله هغه نه استفاده کیږی . دغه بند څه نا څه (۱۲۰۰۰،۰۰۰) مترمکعبه‌اوبه‌نیسی اودرې زرەجریبه‌ځمکه‌اوبه کوی . خوله څوکلو را په دې خوا دهغه پـه کاسه کښې خټې اوزرنې ډیرې شوې دی اودکاسی حجم ئې کم کړی دی .

۲ ـ دخرواز بند او دقرغې بند : دځینوفنی نواقصوله امله چه وروسته پکې پیداشوی دی جوړیږی دخر وار بند د لوگر سیندته نژدی دغزنی پەجنوب شرق کښې دی او مخه‌ئې‌له تیږو اوسمټوڅخه جوړه شوې ده‌اوترشائی دتیږودخټتو دیوال جوړ شوی دی دخروار بند ۱٤۰ مترە اوزد اودیرش مترە لوړدی او (۱۹۰۰۰۰۰۰) مترە مکعبه اوبه پکې ځائیږی چه څه نـاڅه (۲۰) زره جریبه ځمکه به اوبه کړی . د قرغی بنـد اوم دی (٤۵۰)مترەاوزداو۲۹ مترەلوړدی‌او(۱۰۰۰۰۰۰۰) متر مکعبه اوبه پکې ځائیږی اولس زره جریبه ځمکه به اوبه کړی شی.

۳ ـ دسرخاب بند اودزنخان بند: چه نواقص ئی درلودل اوس ئې کارونه معطل دی.

٤ ـ بندسراج غزنی: چه په پخوانی بند باندی جوړشوی دی (۱۹۵) مترہ اوزد او ۳٦ مترہ لوړ او (۱۹۰۰۰۰۰) مترہ مکعبه اوبه پکې ځایېزی اودشل زره جریبه ځمکې د اوبولو له پاره اوبه پکې ذخیره کیدی شی سربېره په دې چه دمملکت په شمال کښی دسیندوله او بونه ډیره استفاده کیږی په نورو ځایو کښې هم اوبه شته چه هغه دچینو اوکاریزو اوبه دی چینی په غرنیو علاقو اودغرو په شګلنو لمنو کښې پیدا کیږی او دمملکت په غرنیو برخو پورې لکه هزاره جات، کوهستان او کوهدامن مخصوص دی په همدغه ځایو کښې داډول دشګې رست انطباق کوی چه ددوو رستی پردوترمنځ دشګو پرده پیدا کیږی اومنحنی شکل غوره کوی اودار تیژن د کوهیو طبیعی شرطونه را غونډوی کاریزونه دافغانستان په جنوبی اوجنوب غربی برخو کښې ښه نتیجه ورکوی اوشمیرئې هم دمملکت په جنوب اوجنوب غربی برخو کښې زیات دی اوبه دځمکی د کښتی کولو له پاره ډیره ګټه لری اوپخوا له هغونه دځمکو د اوبه کولو له پاره ډیره استفاده ترینه کېده. دبکوا، فراه او دچخانسور دپرا خو ځمکو اوبه کول او دهرات دیوې زیاتی برخې ځمکی او به کول دیوشمیر کاریزو په واسطه سره ووچه ورو ورود چنګیز دوحشته ډکو حملو په اثر ړنګ شوی اویائی ږخاوندا نو مهاجرت کړی دی اوخوشی کړی ئی دی چه په پای کښې له استفادې نه وتلی دی. دغه دځمکې لاندې داو بو د سطحې لوړوالی او دځمکې په لاندی طبقو کښې ددوی ذخیره کیدل دمملکت په شمال شرقی، شمالی اومرکزی برخو کښی لږ اودهغه دجنوب، جنوب غربی او غربی برخو کښې زیات لید ل کیږی اوعلت ئې دادی چه شمال مشرق او دمملکت مرکز لوړدی اوله د ولسو زرونه زیات لوړ والی لری او حال اچه هرځونه چه دجنوب اوجنوب غرب خوا ته لاړ شو لوړ والی کمیږی اوله دوولس زرومترونه ورورو نژدی (۵۰۰) مترونه را ښکته کیږی اوډیر امکان لری چه دغه وضعیت په موقعیت اوتردې چه دځمکې لاندې اوبو د حرکت په سمت هم اغیزه کوی اوددې سبب شوی دی چه په جنوب او جنوب غرب اوتردې چه دمملکت په غرب کښی او به دځمکې لا ندې ذ خیر ه شی اوپه اسانۍ سره دکاریزود کیندلو په واسطه ورنه استفاده وشی لکه چه دبکوا په دښته اودفراه په ډګرو کښی یوائی دری مترہ ښکته اوبه راوځی اوهغه کاریزونه چه په دغه ځای کښې کیندل کیږی اوبه ئې دائمی اوډیری وی نو کولی شو چه دیوشمیر زیاتو کاریزو په کیندلو سره له دغو زورو اوحاصل ورکونکو ځمکونه ډیره استفاده وکړو. ځرنګه چه دپورته تشریحاتو له مخې دمملکت دلوړوالی اودبیلو بیلو ځایو دسیندو په باب کښې پوره معلومات در کړل شوو ګواکی موهوم نکات اورموز موجل کړ او ددغو مهمو عواملوله مخې کولی شودهرې منطقې زراعتی خصوصیات ځانته معلوم کړو اودر هرې منطقې د آب وهوا په باب کښې ورمعلومات ورکړو. ددغو معلوماتو له مخې چه پخوا در کړل شول افغانستان په دوو مهمو منطقو ویشل کیدی شی چه بیاهره منطقه په خومنطقو ویشلی شو. دغه دوه مهمې منطقې یوه ئې غرنیۍ لوړه برخه ده اوبله ئی میدانی ټیټه له ۱۵۰۰ مترو نه تر ۲۵۰۰ مترو پورې لوړوالی ببل خصوصیات اوټاکلی آب و هوالری کابل اودهغه شاوخوا په دغه لوړوالی کښې داخل دی چه (۱۷٦۲) متر لوړ والی لری اوبله ئې دغزنی منطقه ده چه (۲۲۰۰) مترہ لوړه ده. دریمه ئې دهزاره جات اوبامیانو منطقه ده او ځلور مه ئې دمملکت په شمال شرق کښې دبدخشان منطقه ده په دوبی دغه ځلور منطقی تودې دی (هزاره جات اوبدخشان) په لوړوبرخو کښې ددوبی درجه تر ۳۵ درجو پورې اوپه هوارو برخو کښې لکه کابل اوغزنی تر (٦۰) سانتی ګراد درجو پورې رسی اود هغه په عکس په دوبی کښې د تودوخی درجه نژدې (۲۰) یعنی ۲۰ درجی تر صفر رابښکته کیږی. د جدی اود لو ې په میاشتو کښې وا وره او په حمل کښې بارانوو ری دواورې اوباران اندازه له ۵۰۰ میلی مترونه زیاته نه ده چه له هغې جملې نه ۳۵۰ میلی مترہ له دلوې نه ترحمل پورې ووری باد په ژمی کښې دشمال له خوا اوپه دوبی کښې د جنوب غرب له خوا چلیږی، دغه آب وهوا د کښت او د انسان دژوندله پاره ډیره ګټوره ده اوپه هغو منطقو کښې چه له ۲۵۰۰ مترونه ټې لوړوالی زیات دی ژمی ډیر سخت وی اوژوند ګران وی لکه دبدخشان شمال شرقی علاقی (زیباك، شغنان، واخان، اونورې) خوسره له هغه هم غلی په هغو منطقو کښې پخیدی شی اوحاصل کوی چه (۳۰۰۰) مترہ لوړې وې هوارې اولږ لوړې برخې چه دمملکت په جنوب اوجنوب غرب کښې دی هغه هغه برخې دی چه له ۳۰۰ نه تر ۱۰۰۰ مترو پورې لوړې دی اوهغه په شمال کښې دبلخ شاوخوا (۳۰۰) مترہ اوپه شرق کښې جلال آباد (٦۰۰) مترہ اوپه غرب کښې هرات ۸۰۰ مترہ او دبادغیسات هوارې برخې (٦۰۰) مترہ او قندهار، ګرشك، فراه اوچخانسور په جنوب غرب کښې شپږ سوه مترہ لوړ والی لری دغه برخې چه لوړوالی ئې کم دی آب وهوائی توده اووچه ده او تودوخه دجوزا، سرطان او اسد په میاشتو کښې تر ٤۵ سانتی ګراد درجی پورې رسی. ژمی ئی معتدل اوښه دی که څه هم دجدی په میاشت کښې دشمال اوشمال غرب له خوا بادونه چلیږی اودتو دوخی درجه ترصفر ۸ درجی ښکته کیږی او دتودوو منطقو نباتات لکه نارنج، مالتی خرما اونوروته زیان رسوی په دغو

برخو کښی دپسرلی کښت ددلوې په میاشت کښې (ددلـوې په نیمائی کښې) شروع کېږی او کیدی شی چه په یوه کال کښی دوه فصله حاصل ورکړی په ګرشك اوقندهار او ګرم سېر اوپه فراه کښې له غنمو ورو سته جو ار کر ی اوښه حاصل ورنه اخلی . باران لږاوری دحوت اوحمل په‌میاشت کښې لـه ٦٠ تر ٨٠ ملیمترو پورې اوری پخوامو دافغانستان زراعتی منطقې دلوړوالی اودتودوخی ددرجې له مخی ټاکلی او دهرې منطقه، په باره کښې مومفصل‌معلومات درکړی واواوس په لاندی‌ډول سره دهرې منطقې دزراعتی حاصلاتو اوداقتصاد د اهمیت په‌باب کښی معلومات درکوو :

۱ ـ جلال آباد، دلغمان‌منطقې ، سره رود سلطان‌پور، فتح آباد اوپه جلال آباد پورې نورې مربوطې منطقې (٦٠٠) مترې له بحرنه لوړې دی دلوړوالی دکموالی او هندته دنږدې والی له‌املې توده آب وهوا لری دکابل د سیند کوزنیو حوزه دګندمك‌ترحد پورې‌له زرمترونه‌لږلوړوالی‌لری‌ژمنۍ معتدل اودوبی‌ئې‌تودوی‌دمونسون Monsoon باد دغو منطقو ته یوځه باران اولـمبل ورکوی دمشرقی پراخ ډګـرو نه د لغمان او کنړ له سیندنه اوبه کښې اواوبه ئې هم ښې ډېری دی کلی اوعلاقی ئې نفوس ډیرلری ددغو منطقو نباتات دحاری دمنطقو مخصوص نبات لـکه‌مټه، مالته، سنګتره، چقوتره ، خرما، کنی، وریجی، پنبه، کنف (سنډ) . دلغمان وریجی ، خټکی او ګـنی مشهوردې . نخود، باقلی، مشنګ اونسك ډیر کرل کېږی او دګندمك‌اوجګدلی‌اوتوتوخوازه او بیدانه‌انارمشهوردی‌اودپوست دکلکوالی اومقاومت له املې تجارتی اهمیت لری . انځر، آلو توت اولوکـاټ هم پکې شته، ځـنګـوزی او ځنـګـلی غـوزان انار ا و انځـر پـه نـورستان کـښی ډیـر زرغـو نیـږی دسپین غره (سفیدکوه )لږ دافغانستان دهغوغروځه‌دی چه ونې اومهم ځنګلونه لری چه‌دجنوب خواته دی اوبل‌لږئی چه اسمار نومیږی په‌مغرب کښی دی ډیری ونې‌ئې د (کونیفرا ) له جنس نه دی لکه ځېرې او ( ابیس اګـلزا abies excelsa ) او (ناجو Pinuslongiofoha) اونورې دی د ځنغو زو له میوې نه استفاده کیږی سر ببره په‌دې ونو د (یـاس) او ( فـندق) او (ژونیپروس) اوغوزان اوشفتالو چه‌پخپله زرغو نیږی اوغرنی بادام‌پکې پیدا کیږی. ددغوونو په‌سیوری کښې ډول ډول ګلاب انیسکل،دځمکې انګور او ګو سبری Gooseberry دو لانـه او ځنګلی تاك هم پیدا کیږی. دغه نباتات چه‌دځنګلی ونو لاندې لیدل کیږی له‌دوونه‌تردریو زرومترو په‌لوړوالی کښی‌زرغونیږی په لږو ارتفاعاتو کـښی پښې زبـان ګـنجشك(مرغی ژبه) نپل ، لبور نوم Laburnum خوون چه پخپله شنه کـیږی ، اکا سی د ورښمو و نی Mimosa ز ر شك خر ما او مرخنیږ لیدل کیږی او دنورستان مهمی ځنګلی ونې ځېرې نښتر او ځنغوزی‌دی پدغو ونو کښې په‌سلو کښې ٥٥ اخیرې په‌سلو کښې ۲۰ نښتر اوپه سلو کښې پنځه ځنغوزی دی اوپه سلو کښې شل نورې ونې دی داحصائیې دمعلوماتو له‌مخې داټکل په ډول سره ویلی شو چه دنورستان او کنړ ځنګلو پراخوالی له۱۹٤ زرو هکتارونه زیات دی اودهغو حاصل لرګی (۳۱۷۸۰۰۰۰) مترې مکعبه ټاکلی‌شو .

۲ ـ کابل اودهغه شاوخوا : کابل دافغانستان په شمال شرق کښې دهندوکش په‌جنوب کښې‌دی اوله۱۷٦۰ مترونه تر ۱۸۰۰ مترو پورې لوړوالی لری او‌شاوخوا ئې زراعتی ډګرونه دی چه غرونه په راګر ځیدلی دی اودمیوو بنونه او د سبو ځمکې دی دکابل په شمال کښی دکوهدامن میدان او په‌جنوب کښی ئې دچهاردهی میدان دی . کوهدامن د هندوکش په‌لمن کښې ۱۸۰۰مترې دسیندله سطحې نه‌لوړدی او اوزدوالی ئې له شمال نه‌جنوب‌ته٦۰ کیلومترې‌سورئی‌له‌مشرق نه‌مغرب‌ته۲۲ کیلومترې‌دی غربی‌برخه‌ئې زرغونه اوشرقی‌برخه‌ئی‌غرنی‌اووچه ده استالف فرزه، شکردره دهغه‌مشهور کلی‌دی چه‌دمیوو بنونونه پکې‌ډیر دی دکابل‌سیندنږدې له‌جنوب نه شمال‌ته ددووغروشیر دروازې اوآسمائی‌غروپه‌منځکښې دکابل ښارته ننرخی او په هماغه شپه اوررخ کښی دتوددخی اختلاف دلږاوډیر تر منځ له۱۵ نه‌تر۲۰ درجو پوری‌دی تودوخی اکثراً د ماسپښین په ۲ـ اوه۳ بجو وی اودسهاردا تو بجو اودشپې دنهو بجو تودوخی تقریباً په‌یوه‌اندازه وی. کابل دمملـکت‌معمور اوښکلی‌ښاردی اودمملـکت لـه‌هغو ښارونو نوځخه‌دی چه‌ډیر نفوس‌لری‌اوډیره‌ښه آب‌وهوالری‌په‌شاوخوا اوشش کروهی کښی‌ئې ډیر ښونه شته واوره د جدی له میاشتې نه یـکی‌وری اودحوت ترمیاشتی پورې دوام کوی او دواوری کالنی اندازه ۳۰۰میلمتره ده بارانونه چه دحمل نه‌شروع شی ددغې‌میاشتی تر پایه‌پورې اوری اود ثور په‌میاشت کښی کله‌کله کم‌دوامه اوسخت‌باران‌اوری چه سیلاونه ورنه‌ولاړیږی په‌دوبی کښی‌دتودوخی‌درجه تر٤۰ درجی سانتی ګراد پورې اوپه ژمی کښی‌دیخنی‌درجه شل‌درجی‌ترصفرراښکته کیږی دکابل په‌شمال کښی دغورېند په‌دره کښی دبادامو ونی ډیـرې‌دی او پغمان‌ئی په‌شمال‌غرب کښی یوښکلی‌ځای اوښه‌آب‌وهوالری په‌چهاردهی‌ر کښی چه‌دکابل په جنوب کښی ده د عرعر چنارونه ښه‌وده کوی توت، زردآلو اوآلوئی هـم ډیـر مشهور دی .

قطغن‌میمنه‌مزارشریف: دغه‌درې‌منطقی‌دخپلوجغرافیائی‌اوفزیکی خصوصیاتو په باره کښی یو بل‌ته‌سره‌ورته‌دی‌اوشپږسوه-مترې دبحر له‌سطحی نه‌لوړې‌دی‌اوشګلن‌اوحاصل‌خیز میدانونه لری که او به وروږسیږی ښه‌حاصل‌ورکوی ددغو منطقو شمالی برخی داسی غونډی‌لری‌چه‌ونی‌پکی‌ولاړې دی اوزرغونی‌دی په دغوغونډیو کښی‌دغرنیو بادامو او پستې ونې هم شته دبد خشان ځنګلونه هم‌باید دقطغن ځنګلو جـزء وګـنو دبـدخشان او عنبرکوه

په ځنګلو کښې د پستې، نیزونې، ځپړې ونې ډیرې د ی اوډیر اهمیت لري، ځکه چه په هغو کښې ځپرونکو (درنده) حیوانان هم پیدا کیږي اودښکار یانو توجه ئې جلبه کړې ده اودقطغن ځنګلونه عموماً دهندوکش دشمال په لمن کښې دي اودنورستان په ځنګلو پورې مربوط ګڼل کیږي . ددغې برخې مهمې ونې پسته بادام ځپړې او په لوړو برخو کښې ئې نیزونې نښتراونورې ونې موجودې دي لکن څه چه د کرهنې د نقطه نظر نه اهمیت لري د دغو منطقو زر غون او پراخ او هوارمیدانونه دي چه زمینه ئې د حیواناتو خصوصاً د پسواودقره قلي پسواوآسونودروزنې له پاره مساعد کړې ده ددغومنطقو ځمکه د کرهنې دپاره ډیره وړده او د پسرلي دبارانو په واسطه دللمیو له پاره پوره ورنه استفاده کیدی شي په هغو ځایو کښې چه په ځمکو باندې دسیند د اوبو لګول ممکن دي پنبه وریجې جوار ،زغر ،اوربشې اوغنم کرل کیږي ،نخود نسك باقلي،مې اوډیر نبه هرډول خټکي اوهندوانې اوډول ډول میوې لکه توت ، شفتالو، مني،الو، انګور اوانارهم پکې کیږي له قندزنه ترتاشقرغان (خلم) پورې هواراوپراخ میدانونه موجود دي چه پرته له شترخار اوترخوشخه نورځه نه پکې لیدل کیږي سنګچارك اوسرپل دمزارشریف دولایت په جنوب کښې اوتاشقرغان (خلم) دشرق خواته دمیو و باغونه اوزرغو نې درې اوداسې نبه آب وهوالرې چه د ګرمې په وخت کښې او کوم وخت چه شومه کمه شې ځاروی هغه ځای ته لیږدوی په بغلان کښې دلبلبود کښت دبورې دجوړولو اودقطغن په نورو ځایو کښې دښې کرل ډیرروا ج لرې په ایسکو (سمنګان ) کښې چه درې زره فوټه لوړې دپستې اوبادامو ځنګلونه شته دمیمنې ځمکه ډیره قوي اووړده اوښه آب وهوالرې خو اوبه ئې کمې دي په قیصار اوبلچراغ کښې دیزونې ځنګلونه هم شته چه دهغود حالت پراختیا او اصولي استفاده پوره مراقبت اودقانونو جوړول غواړي .

اندخوی دمزار شریف دولایت د غرب خواته پراخ میدانونه لرې چه د غونډیو په منځکښې دي اود کرهنې په تېره بیادقره قلي دپسونودروزلو له پاره ډیروړاومساعددي ، اندخوی دقره قلي دپسو دروزلومهم مرکزدي هم دشمیر په لحاظ اوهم دقره قلي دصفت په لحاظ اهمیت لري یونقص چه دقره قلي دپسونو په روزنه کښې لیدل کیږي دشومي لبز والي دي چه په تېره بیا په ژمي کښې دهغود ذخیرودنشتوالي له امله پسونه تلف کیږي او یادشومي دلبزوالي له کبله ضعیفیږي اوزمینه دناروغیو له پاره برابر وي بل علت ئې داوبو لبزوالي دي چه دیوه شمیر ګلوله پاره نه بس کیږي اودهارویو خاوندان دې ته اړ کیږي چه خپل پسونه د اوبولو له پاره لرې بوځي ،بل عامل چه دپسو د تلف کیدو اودلبزوالي عامل کیږي دډول ډول ناروغیو خپریدل دي چه هغه هم په عمومي ډول سره دشومي له لبز والي سره چه بدن کمزوري کوي اودناروغیو داخیستلو له پاره ئې چمتو کوي ارتباط لري ددغو دریو نقصانو په لرې کولوسره دپسونو شمیر ،صفت او جنسیت ښه اوډیر ولي شوو هغه اوبه چه داندخوی ځمکوته را ځي. دګر زیوان اودر زاب ددرو دواوو اوددولت آباد دچینوځخه راښکته کیږي داندخوی اوددولت آباد دځمکو په مینځ کښې په ۲- او ۱- تناسب ویشلی کیږي ،اوبه ئې تروې دي اودځړدځمکو تریوخاصیت دقره قلي دپوست دصفت له پاره ګټوردي دځمکي دشګلي ترکیب اوداوبو تریو والي چه آش ورکړ شوی پوست دشګو دتودوالي په اثر یعنې داوبو دتریووالي په اثر پخیږي، دپوست دښېګڼې او ښه والي له پاره مرسته کوي . داندخوی مهمې علاقې، آقچه ، فیض آباد، خانقا ،منګجك ، شورتپه شولګره ، حضرت سلطان ، اودهدادی دباغو له پاره ډیرې وړدي اوبیلې بیلې میوې لکه بادام ، غوزونه ، زردالو، مني بهې ، نسك اونورې میوې زرغونیږي . دمزار شریف ولایت چه دبلخ دلارې په امتداد کښې دهغه په شرقي خوا کښې دي پراخ ډګرونه اوزرغونې غونډۍ لرې او د کرهنې له نقطه نظره ډیر اهمیت لري .

دبلخ، شبرغان اواقچې پراخ ډګرونه دغلو او پنبې د کښتو اودسرپل ،سنګچارك ، تاشقرغان(خلم) او ایبك (سمنګانو) لوړ ځایونه ډیر ښه هوالرې اودمیوو دونو د کر لو له پاره وړ طبیعي شرطونه راغونډوي .دتاشقر غان میوې (په تېره بیا انار، انځر او بادام) مخصوص شهرت لري که څه هم دښار په نږدې شاوخوا کلیو کښې پرته له خټکیو نورې میوې ډیر دوام نکوي دهغو په برعکس دسرپل ، تاشقرغان او دایبك دبرخو میوې ښه رنګ اوخوند لري او دوام ئې هم ډیردی اوسر بیره په دې دسنګچارك ، سرپل اودمزارشریف نورلوړ ځایونه د آسونو اوپسو د روزلو له پاره وړدی له اقچې او نصرت آبادنه نیولې تر چاربولك او بلخ پورې دسرك دواړې خواوې ( پرته له څښنو ځایو) شاړې دي که اوبه ورته و موندلې شي ډیرې ښې ځمکې دي دچشمه شفا چه دمزار شریف ودانې ور پورې مربوطه ده په جنوب مغرب کښې ده او هجده نهر ورنه بیلیږي اته لس نهرونه دادي: نهر شاهي، نهر سیاګرد، ددولت آبادنهر، دعبدالله نهر، داصفهان نهر ، دشرك نهر، د فیض آباد نهر ، دچمتال نهر ، دامام نهر ، دمشتاق نهر ، دحیدر آبادنهر ، د چار بولك نهر ، د اقچې نهر ، د بلخ نهر ، د ارغنداب نهر او نور دمزار شریف د ولایت طبیعي ځنګلونه په سنګچارك دره صوف سرپل، بلخ ، ایبك (سمنګان) او تاشقرغان کښې دي اودپستې او نیزونې له ونو نه تشکیل شوي دي .دمزارشریف دولایت دمنطقو د پستې دانې او و نې ئې دباد غیسا تو دپستې نه وړي دي . خو دمزارشریف دولایت او د قطغن پسته درنده ده،

دقطغن زراعتی اهمیت ورځ په ورځ پسې زیاتیږی، د قطغن په بیلو بیلو ځایو کښې دپنبې دکرهنې پراختیا او په بغلان کښې دقندی لبلبو دکرهنې پراختیا اوپه بغلان او قندوز کښې دفارمو تاسیس دابښکاره کوی چه قطغن ډیر استعدادلری او ښه حاصل ورکوی او کولی شو دصناعتی نباتاتو کرهنه دهغه په بیلوبیلو ځایو (بغلان، خان آباد، تالقان ، قندز، حضرت امام ، ینگی قلعه، قلعه زال اونور ) کښې پراخه کړو داجیر دنهر ( دگور گان نهر) دخان آباد دسر دو ری نهر ، د کنم نهر او دارچی دنوی کیندل شوی نهرلاس ته راغلې نتیجې دانظریه اثباتوی . په قطغن کښې هم دنیزونې، پستی اودهغو بادامو ځنگلونه شته چه پخپله شنه کیږی دهغه مهم ځنگلونه په اندراب، نهرین، دوشی، اونورو ځایو کښې مو ندل کیږی دقطغن د ولایت او د بدخشان په ځنگلو کښې په تېره بیا په غرنیو او سړ و منطقو کښې د غه نباتات پیدا کیږی :

۱- شقاقل :یو ډول غرنی گازره ده او دقطغن اوبدخشان دغرو په سړو برخو کښې پیدا کیږی

۲- هنجه : په دوشی ، تالهوبرفك ، اندراب او بد خشان کښې شته .

۳- زیره : په اندراب اوبدخشان کښې پیدا کیږی .

٤- ترخه : دقطغن اوبدخشان په ټولو ځایو کښې شته .

٥- کاگتی :په بدخشان ، اندراب ،نهرین، خوست،فرنگ ، کشم ، اشکمش، اوتالقانو کښې ډیردی .

٦- ممیره : دبدخشان دغرو له واورو ډ کو څو کو او په سړو غرو کښې پیدا کیږی .

۷- کوری(زرك) : په فرخار ،اندراب ، برفك، کشم ، او بدخشان کښې پیدا کیږی .

۸- پیاز مرسل (غرنی پیاز)په بدخشان ، اندراب ، نهرین خوست اودنورو ځایو په غرو کښې پیدا کیږی .

۹- تاترنك : یوډول واښه دی چه بیخ ئې لبلبودی اوپه سړو غرو کښې موندل کیږی اودانې ئې خوری .

۱۰- زرشك : د قطغن په اکثرو ځنگلی غر و کښې پیدا کیږی دصنعتی نباتاتو دکرهنې پراختیا لکه پنبه او قندی لبلبو دا ایجابوی چه بزگران له خپلو ځمکونه ډیر او ښه حاصل واخلی اودخپلو لگښتو او زیار په مقابل کښې له خپلې ځمکې نه ډیره گټه و کړی .

هرات او بادغیسات : هرات له ٦۰۰ تر ۸۰۰متړو پورې دبحر نه لوړ دی او ۱۵۰ کیلو متره اوزد د هریرود په دواړو خواؤ باندی پروت دی د جنوب اودجنوب غرب خواته ئې پراخ ډگرونه دشمال اوشمال شرق خواته ئې دغوراتو غرونه اودشمال غرب خواته ئی دبادغیساتو د زرغونو ونو میدانونه او غونډی لیدلې کیږی .

هریرود دافغانستان دا کثرو سیندو په خلاف دځمکې پرمخ بهیږی اودویالو ویستل نسبتاً ډیر نه آسان دی لکه چه دغوریانو خواته له همدغه فراه رودنه یونهر ایستل شوی دی ، د هرات شاو خوا دنهو لویو نهرو په واسطه اوبیږی د هریرود سیند دهزاره له شرق نه راولاړ شوی دی او دهغه دره دشرق نه دغرب خواته ۵۰۰ کیلومتره اوږده ده ،دهرات دځمکو داوبه کولو نه وروسته دشمال خواته گرځی اود ذوالفقاردهنې خواته بهیږی ، که دهرات ډگروته اوبه ورسیږی هرډول زراعت پکې کیدی شی، غلې، سابه، میوې په تېره بیاانگور ، خټکی ، شفتالو ښه پکې کیږی، دصناعتی نباتاتو زراعت لکه تمباکو ،تریاك، زعفران اوپنبه هم ښه نتیجه ورکوی .

د هرات د تریاکو فیصدی د افغانستان د نورو ځایو په نسبت ډیر دی . پنبه یومهم صناعتی نبات دی چه دور یښمودجنجیو له روزنې سره دنسا جی د صنائعو د ترقی له پاره پر اختیا ورکړه شی، د غوراتو له غرنیو برخو او د باد غیساتو له لوړو ځایونه په پرته د هرات په نورو ځایو کښې دپنبې کرهنه امکان لری او خلکو له ډیرې مودې را په دیخوا دپنبې نه توکران اوبی او ډول ډول توکران سازوی په ډیره اندازه د پنبې حاصل او خارج ته د هغې لپاره، که څه هم گته لرې خو څرنگه چه پنبه په وطن کښې مصر فیبزی او او بدل کیږی ډیره گټه نه شی تامینولی . د پنبې کرهنه کله شه هم په دی وروستیو کلو کښې کمه شوی ده خودانجیل، گذرې اوجوی نوپه حکومت کښې زیاته ده . وړی دزراعتی بل مهم محصول دی . د بادغیساتو زرغونه کښتونه اوشنیلی له جوند نه ترچغچران اوله قادس نه تر کشك پوری دوام لری او ددی له پاره چه له شومې نه اقتصادی وړاستفاده وشی با ید دغه دوه لاندنی مسئلی په نظر کښې ونیولې شی :

۱ — یو ډیر شمیر د مالو خاوندان دي په بادغیساتو کښې مېشت شی او د دوی اړتیاوې دی لکه د چښلو اوبه اود څارویو دخوندی کولو ځایونه دې ور ته برابر کړل شی .

۲ — په داسی حال کښې چه دځارویو خاوندان په ځنگل لرونکو ځایو کښې مېشت شی ونوته او د پستونیالکیوته دې دزیان رسولو مخه ونیوله شی . د مالو خاوندان په بادغیساتو کښې متحرک ژوند لري چه د یو ه ځای شومه خلاصه شی او یا خلاصیدو ته نژدی شی دمالو خاوندان خیل څارویو داسی سړو ځایو ته لیږ دوی چه وا ښه ولری . په عمو می ډول د څارو یو د تلولاره او داوسید لو ځای او بوته نژدې وی څرنگه چه دځارویو د اوبه کو لو وسیله په باد غیسا تو کښې کو هی دی او کوهیو شمیر هم ډیر محدود اوهر قوم ځان ته کوهی لری تو د اوبو د لیږ والی له کبله نه شو کو لی دمالو دخاوندانو

او د ځاروبو شمیر د بادغیساتو په بیلو بیلو ځایو کښې زیات کږو . یعنی هغه مشکلات چه په بادغیساتو کښې د ځاروبو د ساتلواوز یاتوالی له امله لیدل کیږی کټ مټ هغو مشکلاتو ته ورته دي چه په میمنه کښې لیدل کیږی او د اوبود کموالی له امله دی چه د میمنی د مالو خاوندان د باد غیساتو په وښو کښې نه شی خریدی . دلوړوالی له مخی د باد غیسا تو وو بنو کانی په دریو بیلو بیلو برخو وشلی شو :

په لومړی منطقه کښې مالداران خپل ځاوری د ټور له میاشتی نه دسرطان تر ۳۰ نیټې پورې په دوهمه سړه اولوړه منطقه کښې داسد له اول نه دعقرب تر شلم او په دریمه منطقه کښې د عقرب له شلمی نیټی نه دثورد میاشتی تراول پورې پیائی (یاځروی) پسته د هرات د بادغیساتو یو مهم ځنګلی محصول دی چه ځنګلونه ئی د کو کلم د کلی له نژدې نه شروع کیږی او نژدی ترقادس اوقلغه نو پوړې رسی وانبه لرونکې غونډی د کوتلمی له حد چه ( شیخ کوتل) نو میږی او د آرد بې له بندنه شروع کیږی او د هغو په شاو خوا ښه ځې او یوډول گرامینه وانبه چه بروم Brome نومیږی ولاړدی ، د آرد آبی له بندنه نه وروسته بله دره شروع کیږی چه رباط میرزا نومیږی چه ښه ټللمی پکی کیږی رباط سنګی چه له رباط میرزا له جملی څخه دې یوډول ځو زان لرې چه خلک ئی چغه تک بولی او اونښان ئی ډیره په مینه خوری . له سنګی رباطنه وروسته د دوآب د برخې په سر کښې یوه لارښی خواته د کشک خواته او بله لاره کښې خواته د ګلران خواته ځی. د کشک حکومت د رود بار غاړه د لږو و نو په منځ هغه ځای کښې چه (یګه درخت) نومیږی واقع دی. په غونډیو ډیر وانبه ولاړدی، د کشک په شاو خوا کښې د کنیرا او ترنجبینو بوټی اودشیر خشتو و نی شته. په کشک کښې دوه ډوله غنم کرل کیږي (د پسرلی شاه نیازی غنم) او (د مني شاه نیازی غنم ) د کشک په ټولو غونډ یو وانبه ولاړدي اویو شمیر ډیر ځاروي هلته روزل کیدی شي د دغه ځای او به چمنی ، جبه زاري ډیری خرابی او بدبویه دی قلعه نو چه د کشک په شما ل شرق کښې ده ډیر ې غونډی لرې ا و د پستې ډیر ځنګلو و ر با ندی ولاړ دي چه د هغو اثار د کو کلم د سیلابی رودپه حدودو کښې لیدل کیږی. په زرغونو غوند یو باندې رنګارنګ ګلان لکه شقائق او زمین یاسن او نو ر و لاړ دی د پستی یوشمیر ډیرې و نی چه د خلکو دبی پرو ائی په اثر له منځه تللی دی دری ځلور مټره لرې په غونډ یو ولاړې دی او دخلکو توجه دښکلیتوب له امله خپلی خواته را جلبوي دقلعه نو دشمال خواته ( کو ګندو) چه له کو کچاسی شروع کیږی د پسته دو دی له پاره وړدی اود پستې و نی پکی ولاړی دی خو په لوړو ځایو کښی که غروې او که غونډی وې د پستی د و نو په ځای د نیزونې و نی لیدل کیږی د بادغساتو دپستې ډو ل Pistacici-vera دی دا چه وائی یو کال حاصل کوی او یو کال ئې نه کوی موهومه مسله ده او حقیقت ئې دادی په هغو کلو کښې چه په ژمی واورې او بارانونه ډیر وورې اود کال په سر کښی سړه بادونه اودکال په منځ کښی تاوده اوچ بادونه وچلیږی او و نوته تاوانونه و نه رسیږی دپستی حاصل ښه وی او همدغه رنګه په هغه ژمی کښې چه واوره ډیره وشی او نور مال وی شیر خشت هم ښه حاصل ور کوی پسته لکه د خرماونې نر اوښځی لری دماده ډډ نسبتاً ډیر کو چنی او ډیری ښکلی اوهم ئی د څانګو ر نګ رو ښانه دی. او د تذکیر ماده دباد اوحشراتو په واسطه د نرله پینو څخه دمادې و ګلانوته ور نقل کیږی که چیری ډیر باران واوری نو دمیوو پیدا ینت ته ئې تاوان ور پیښ شوی د پستې حاصل ئې لږ او یا ګورې ناقص کیږی د هرات دیوه کال دپستې حاصل لس زره خروار ه تخمین کیدای شی لیکن که لازم اووړضبط اوربط و شی اوکال هم مساعد اوښه وی نو حاصل ئې یو په دوه او یو یه دري هم کیداشی. دپستې د ځنګله اوزدوالی ۸۰ کروه او سور ئې ۲۰ کروه تخمین شوی دی په بادغیساتو کښې د کرهنی دمهموچارو څخه دقره قلی دپسونو روزنه ده اوداپه ټوله بادغساتو کښې امکان لری داندخوی، آخچې ،میمنی اومزارشریف دپوستو صفت دبادغیساتو تر پوستونو لوړ دی .هرات دورښمو د چینجی (پیله) دروزنی دپاره ښه ځای دی اوهر کال د ۵ څخه تر ٦ز رو اونسو پورې دورښمو دچینجیانو هګۍ روزل کیږی پر ته دپنبو وړیو پوستو اوورښمو یو بل له متفرقه محصولاتو څخه چه له اهمیت څخه نه دی وتلی دزیري محصول دی چه عبارت له یوه اشتهار اوړونکی طبی وانبو څخه دی اوپه خوړو کښې کارپږی اود (ګل چتر) له کورنۍ څخه دی زیره تر ټولو زیاته په (جوند) کښې پیدا کیږی مالداران عموماً ددې مهمو وانبو په ګټونه پوهیږی ځکه نو دمالو اوځاروبو تر پنبولاندی تلف شی د زیری دپخیدو وخت دجوزا ۲۰ دی که څه هم دجوند مخکه غرنۍ ده خو پرانه ده دالحمکه دقطب خواته ترشهرک پورې ۱۸ کروه اودسهیل خواته ترمیمنې پورې ۱٦ کروه اود لمر لوېدو خواته ترقادس پورې ۱۲ کروه اودلمرخاته خواته تر میمنی پورې ۹ کروه پرته ده دبادغیساتو دځنګله له محصولاتو څخه یو دنیزونې و نه ده. ددې ځنګلونه نسبت وپستې ته په لوړو اوهسکو ځایو کښې دی اوعموماً مرغاب، قادس، قلعه نو، کشك، کرخ او او به په حکومتو اودسبزك کوتل په لوړو ځایو کښې پیدا کیږی (منځه) ارچه دصنوبر یو ډول دی دهرات په ځنګلونو کښې دوه ډول ئې شته یو ډول ئې کوز ووز چه په سونګ کښې کارپږی او بل ډول ئې سم او نیغ دی چه په تعمیراتو اوودانیو کښې کارپږی .

دکنډ ورو ( کتیرا ) بوتی چه دهغه څخه کنډ لاس ته راځی اهمیت لری ځکه که چیری په صحیح ډول اوکافی مقدار سره راغونډ کړی شی نودد باندنیومالکو په بازارو کښی ئی له خرڅانه څخه ښې گټې لاس ته راتلای شی دهرات بل ځنگلی محصول شیر خشت دی . داو نه نسبتاً غرنی ده او دمنځی اوپستې ترمنځ لوړوالی غوره کوی په ادر سکن اوغوراتو کښی زیاته پیداکښی شیرخشت دسپین غر منځنی غره اوتورغره په غروکښی موندل کیږی لمړی غر دهرات دسهیل لمرخانه خواته اودوهم غردشین دند دلمر خانه څخه شروع شوی ترسهیل لمرلوېدو پوری اوزدپروت دی اودریم غر دهرات دقطب لمرلوېدوخواته پروت دی دسپین غره شیرخشت ترتولو ډېر ښه خورا سپین خوندور اوترټولو خوږدی دتورغره شیر خشت ښه صفت نلری رنگ ئې ژیړ بخونی اوپه خوندلږ څه ستخ دی دهرات ولایت دافغانستان یولهښو لویو اوحاصل خیزو ولایاتو څخه دی سهیل اوسهیلی لمرلوېدځ : دافغانستان دسهیل او سهیلی لمر

لویدیځ اکثرې خواوی ېل خصوصیات لری هغه شی چه د سهیل په خواکښی مهم دی دهغه ځای ځنگلی محصولات دی ، لکه منځه نښتر، بجور، لوښتی (یوډول سرو) ځنغوزی اوځیرې دغلې کرهنه ډېره لږه ده یوازی په ځینو برخو کښی دجوارو پتی لیدل کیږی دسهیل مهمی برخی چه عبارت له ځاځو منگلو، خوست ، زرملی گردیز، طوطاخیلو اونوروځخه دی اودسپین غره په سهیلی لمن کښی د ۱٦۰۰ او ۲۳۰۰ مترو په لوړوالی کښی واقع دی یوازی دځاځو منطقه (۱۸۳۱۲۰۰۰) مترمکعب لرگی لری . دسهیل دبر خوونی لکه جنغوزی، بادام منځه، ځیرې، نښتر، سرو صنوبر، بجور، لوښتی، ناجو، غوزان وحشی ناك ، زرشك تاك، دنیلو ونه د کتیرا بوټی ، ځنگلی خوږ اکاسی کیکر، مرخنې پام، شین، ځوز، اشخاروحشی گلاب او نوردی دخوست په منطقه کښی چه ترنورو لمده اوتوده ده دگرمو ځایونی لکه کیله، خرما، نارنج ، مالټه، لیمو او نور هم کیدلای شی مځکه ئې تیته اوحاصل خیزه ده افغانستان دسهیل اولمر لوېدئځ اکثره برخی پراخی شکلنی او شاړی مځکی ډگرونه اوډاگونه لری، چه دمملکت دمځکو د مساحې تقریباً څلرمه برخه ده . ددغومځکو څخه قندهار په زیاته پیمانه خورا ودان اوشین دی داعلاقه دمختلفو میوو دلرلو له مخې ښائی چه دافغانستان باغستان وبلل شی دقندهار کور (انگور) آبجوش نیم اېښدلی ممیز ، شکر پاره او نرگوتی (انار) ښه شهرت لری . دارغنداب دره (دارغنداب وډنډ) چه دارغندادراده پهاوبو اوبه کښیږی تقریباً شل میله اوزده پرته ده اوخورا ډېر ښونه لری په دې ځای کښی زردالو، الوچی ، غوزان مني ناك، شفتالو آلو، اوبهی ،شلیل، توتهم تربیه کښیږی فراه په دې سبب چه دشاوخوا مځکی ئې ډاگونه دی و نی او شینلی نلری نو په دوبی کښی کلکه گرمی او مخو فه توده برو (گرم باد) لری په ژمی کښی معتدله ده دجدی په میاشت کښی یخنی تر (۸) درجو تحت الصفر رسیږی . دفراه مځکی درست له شگلنو خاوری څخه جوړی شوی اودهرډول کرهنی لپاره استعداد لری فراه اوسیستان دعباسی خلفاؤ په وخت کښی خورا شین کوړم اوودان ؤ . دسیستان میوی اوباغونه په تاریخ کښی مشهوردی چنگښ اوترده وروسته فاتحینو دتمدن کور ته او ورته کړې بنونه ئې په اغزنو مځکو اوښارونه ئې په کنډوالواوقبرستانو بدل کړل ښائی دبکواد ډاگونو اودچخانسوردډگرونو گډون هم په دغو طبیعی ساختمانونو کښی وشمیرل شی، دگرشك دسهیل لمرلوېدیځی خواته بله پراخه غوړه بدلې مځکه دبغوا دمځکی په نامه وجودلری چه دهلمند درود وښی لاس ته پرلوړه واقع ده ، اوددې مځکی داوبو کولودپاره د (بغرانهر) پنامه یوه لویه واله ایستلې شوې ده دالویه واله تقریباً څلور لکه جریبه مځکه دکرهنی وړ گرزوی ددې لویی ولې خوله ، سالفینرنه اوکانکر یتی او نور کارونه دامریکا (موریسن کمپنی) کړی دی او دگرشك ترښار لږځه لوړ دبغرا پروا له باندی دبرق دقوې ولاس ته را وړو ډپاره یوه فابریکه جوړه شوې ده چه د (٤۵۰۰) کیلواټو په اندازه برق ور کوی . په پای کښی ښائی وویل شی چه په مملکت کښی تر اوسه لاد کر هنی و ضعیت نیمگړ تیاوی لری لکن مر بوطه څانگه ورو ، ورو دهغه په اصلاح بوخته ده .

۹ـ حیوانات : په هغه محیط کښی چه تولی برخی ئې، متشابه طبیعی شرایطو لکه تودوخه، لنده بل ،لوړتیا، دخاوری ترکیب اوآب وهوا لاندی کړی دی ، نوښکاره ده چه دځاروی واو نباتاتو ډولونه به ئې سره بېل اومتنوع نه وی اونه به ئې په اجناسو کښی زیات اختلاف ولیدل شی . لکن په بل ډول په هغه محیط کښی چه دهغه بیلی برخی دطبیعی بېلو عواملو تراثر لاندی وی، البته دهغه دځاروی او نباتاتو پرانواعو کښی هم تنوع او بېلوالی لیدل کیږی . اوهره برخه چه معینه طبیعی شرایط ولری بېل او ډول ډول ځاروی او نباتات پکښی لیدل کیږی . افغانستان یوله هغو ممالکو څخه دی چه په هغه کښی دتودوخی ددرجې، په لحاظ ډېر اختلاف موجود دی . له دی کبله دغه اختلاف دهغه دځاروی او نباتاتو دانواعو پرتعداداثر اچولی دی . دافغانستان دځاروی په خوص کښی ډ یری فنی پلټنی نه دی شوی اوزموږ معلومات دمملکت دنباتاتو په نسبت دځاروی په خصوص کښی ډېر محدود دی لکن ښائی چه داوویل شی : دځاروی تنوع پرته دقطغن اوبدخشان دځنگلوچه دائره ئې هم تر پخوا ډېره محدوده شوې ده ، په نورو برخو کښې دهو اوچوبی اوپرمځکو د وښو دنیستی په سبب په محدود غولی کښی احاطه شوی دی، په افغانستان

کښی ځاروی عبارت له‌اهلی ځارویو څخه‌دی لکه آس، اوښ غویی، پسه، وزه، یابو، کچره اونه اپل شوی (وحشی) ځناور لکه زمری، پرانګ، کوز، لېوه یښ، خش‌غویی، خپك، داوبوسپی،هوسیږ، غرشه. گیدړه، سوی،بیزو، سورلنډی سرکوزی اونور. دکورمرغان لکه:چرگه، کورنیږ هیلیږ، بته، فیل مرغ، کورنیږ کوتره، اونه‌اپل‌مرغان لکه زرکه تارو، دښتی‌چرگ، چوغکه، کرك‌یامرز، سپیسږ، زانه،بلبله (چونپی) سایره، طاؤس، کومول، جورکه. په‌افغانستان کښی آس په‌ډېره اندا زه روزل‌شوی‌اوموجوددی او درې ډوله دی: قطغنی، ترکمنی، هراتی.

قطغنی ډول: په‌قطغن، میمنه اود مزارشریف په ولایت کښی پیدا کیږی، ښکلی‌متوسطه اندام‌لری اوچټکی، دمزاج تندی ددې ډول دمختصاتو څخه‌دی.

ترکمنی‌ډول: اویابهتر وویل‌شی‌مزاری: په‌مزار، قطغن اود هغه په‌شاؤخوا کښی موندل کیږی. ترقطغنی آس‌غټ او جګ دی لکن چټکی اوپه هوسائی لحاظ سته نه پکښی لیدله کیږی.

هراتی ډول: یوازی دسپارلیږ دپاره‌دی، اندامونه ئې ښکلی اوښه تګ‌لری، لکن ترقطغنی آس‌ئی چټکی اوتند مزاجی لږه‌ده اماملاوانس (خپته) پښی‌اوغاړې‌ئی اوږدی دی. د قطغن ډول چه‌د قطغنی‌آس پنامه‌مشهوردی له‌ترکمنی آسانو څخه‌پیدا شویدی، اودآب‌وهوا په‌سبب‌لږ څه‌اوښتی‌دی. د غه جنس چه‌د ترکمنی په‌نامه مشهور اومخصوص ډول اوقدامت لری د نړۍ په اکثرو ځایو(ترکیه، بالقاناتو، هنګری) کښی خپور شوی حتما په‌جرمنی کښی د(ترکمن آلتی) په‌نامه‌آسان شته‌دی داډول آس چه‌دقطغنی دآس له‌اولاد څخه‌دی دتودې وینی له‌تګم څخه دی، دپرشاوږلو اوسپرلیږ دپاره مخصوص‌دی، یعنی ذاتاًخالص نه‌دی اوددوو، وینو څخه پیداشوی‌دی. د آذربایجان اوقفقاز په‌برخو کښی‌د (قراباغی) په‌نامه یاد پښی (قراباغ دقفقاز په سهیل کښی‌ږه‌علاقه‌ده)وښتان ئې طلائی یا ځلېدونکی‌ږ کهردی. تر عربی آس جګ لیکن‌پښې‌ئی لنډی دی. قطغنی، ترکمنی، گرګښی، منګولیائی چه‌یوبل‌ته‌ورته‌دی هم یوله بل سره گډ شوی‌دی، لیکن‌سره له‌دې‌هم‌ځینی خصوصیات لری چه‌په‌هغه‌سره دنورو ډولو څخه بېلېږی خو غو نډ متو سط الاندام او مقعرالخطوط دی، اوپه‌دې‌ټولو کښی‌دترکمنی‌ډول‌خصوصیات چه ثابت ډول دی له‌ورایه ښکار پښی. دافغانستان په لمر لوېدو کښی دایران قشقائی او بختیاری‌ډول دوطنی‌ډول سره گډ شوی مخصوص تکمونه دسبزواری اونورو په‌نامه شته دی او اوس د (هراتی ډول) په‌نامه یادېږی، د اتکم دسپرتیا د پاره ښه اود روزنی په‌سبب‌نوراصلاحات پکښی کېدلای‌شی. په‌دې ډول کښی دقطغنی ترډول تندمزاجی او چټکوالی لږدی، لیکن ځینی ئې داعضاؤ دتناسب له‌رویه ښه‌ترا ددقت‌وړدی.

دګرګ ډول: په‌اېیکو اوتاشقرغان کښی مونډل کښی، کوچنی اندامونه، نرۍ اوکلکی پښې، کوچنی را وتلی غوږونه اویوډول مخصوص پېچلی و پښتان لری. په ځغستا او چټکوالی سره مشهور دی. (آس دې وکتل شی)

پسه: دافغانستان آب وهوا دپسونو دروزنی دپاره خورا مساعده ده. دغه‌سبب دی چه دپسونو تعداد ترنورو ځارویو خورا ډېردی. په‌افغانستان کښی دپسونو شمیرو ۳۰ ملیونوته رسیږی اومهم ډولونه ئی بلخی، بادغیسی اوغلځی پسونه دی. سربیره‌پردې هزارګی پسونه‌هم‌داهمیت‌وړدی. دقطبی خواډول اویا قطغنی چه‌په قطغن اودمزارشریف په ولایت اومیمنه کښی زیات پیدا کېږی،لنډی پښې، غټ هډونه، لږې او لنډی وړۍ اوغټ لم لری. ددی پسه دروندوالی تقریباً و ځلورو منو ته رسیږی، که‌څه‌هم لم‌ئې غټ‌دی خوسره دهغه ترڅنګ منی لاندی وازګی لږلری نوځکه غوښی ئې یوډول پنډی دی اود کاکړی وهزارګی پسونو خوند نلری.

دمشرقی خوا ډول یاګډی: چه‌په اته نفری (هشت‌نفری) هم مشهور دی ډیری اوښې وړۍ‌لری. مېز (قوچ) ئې غښتلی اوغټ اوښکرونه ئې خورا ټینګ، چنګ او پېچلی دی. ځینی خلك ئې دجنګونو دپاره روزی. وړۍ ئی توری، سپینی او برګی دی اوکله هم بوری وی. میږه‌ئې لنډ ښکرو نه لری اولږې شیدې کوی.

غربی‌خواډول یاباد غیسی پسونه متو سط اندامونه، پستی اوښې وړۍ اوښې غوښې لری. سپینی،بوری‌اوبرګی‌وړۍ لری، دلم دروندوا لی ئی متوسط او ښې شیدی لری.

سهیل او سهیل لمراوېدو ډول غلجی یا کاکړی پسونه: په‌ټلات، قندهار، فراه اوسهیل کښی روزل کېږی، لم ئی غټ اودروندوالی ئی تر درومنو پوری رسیږی. وړۍ ئی سپینی اواعلی اوله۲ څخه تر۳ چارکو پوری وړۍ لری. غوښی‌ئی خورا خوندوری غذا لرونکی وی لکن شیدې لږ کوی.

منخنی‌ډول‌یاهزارګی پسونه: جسامت اودروند والی‌ئی متوسط دی. لم‌ئی کوچنی، قدئی نسبتاً لنډ او وړۍ ئی ښې پستی او اوږدې دی. وطنی وړین ټکران ځینی جوړېږی. پستی خوږې اوناز کی غوښی لری. داډول په ټول هزاره جات کی شته. په ټګاب او نجراب حتی پنجشیر کښی هم دا ډول پسونه شته خودلم پرځای لم ګونډی لری. دقره قل پسه دپوستکی دپاره مخصوص دی. دده نوم له (قره‌ګل) څخه چه په منخنی

ترکستاناتو کښی یوښاردی اخیست شوی دی . په افغانستان کښی قره قلی پسونه تردوو ملیونو زیات دی . د پیدایښت او روزنی مرکز ئی دمزارشریف ولایت، اندخوی ، قطغن او دهرات بادغیسات دی .

وزه : تقریباً دافغانستان په ټولو برخو خصوصاً په قطبی ، لمر ختیز اوسهیلی غرینو علاقو کښی روزله کیږی . تور او برګ ډول ئی ترټولو زیات دی . داسمار وزه جګه ، سترګی ئی غټی اونسواری ټینګ پوستکی چنګ ښکرونه او غټ تی لری .

اوښ: دوه ډوله دی . یوبو کانه او دوه بو کانه د اوښ څخه دحمل او نقل کار اخیستل کیږی . دافغا نستان په سهیل اوسهیل لویدیځ کښی ډېره دی . دیوکوه اوښ څخه ډېر کار اخیستل کیږی . او یوبو کانه ډیر غښتلی دی .

درمدار ډول (Camelusdromedarus) مراد له یوکوه اوښ څخه دی چه نسبتاً دمملکت په سهیل کښی زیات دی .

بلخی اوښ (Camelusbactrianus) مراد لهدوه کوهانه اوښ څخه دی چهدمملکت په قطبی برخه کښی ډېر مو وددی.

یابو : یوډول وطنی آس دی چه د غښتلوا لی، ټ ګوالی اوحوصلې پهسبب ددرنو بارو وړلودپاره استعمالیږی . غښتلی اعضاً اوټینګی پښی لری . لوړتیا ئی څور لس لویشتی وی . چټکتوب ئی ترآس لږدی اوپه ګرمی کښی ډېر مقاومت نشی کولای . یابو په معتدلو او سړو ځایو کښی ښهژوند کولای شی . امیر عبدالرحمن خان دیابو ډول لاپسی اصلاح کړ اود قطب دخوایوتعداد یابو ګانئی و هندته ولېږل تړروزنیلاندی ونیول شول .

خر : په افغانستان کښی ډېردی اودشیانو او د کر هنی دمحصولاتو پهوړلو اورا وړلو کښی کار ځینی اخلی . پرته دمعمولی خره څخه چه ایرن رنګ لری یوډول جګ ، غښتلی اوچټک خرهم شته چهدترکستانی خرهپهنامه مشهوردی او قیمت ئی ګران دی .

کچره : چه دخره اوآس له ګډولو څخه پیدا کیږی هم پهافغانستان کښی شته اودسامانو او توپو د وړلو راوړلو کار ځینی اخستل کیږی .

بوکان لرونکی غوایی : دافغانستان پهسهیل او سهیل لمر لوړدو کښی شته اودشیدو څخه ئی پوخه او کراره (قروت) جوړوی . ویل کیږی چه داډول غوا وې په منګو لیا کښی ډیری دی اودهغه ځای څخه افغانستان ته راوستلشوی دی .

خش‌غویی (غژګار) : (yack) د مملکت په شمال لمر ختیز یعنی په بدخشان کی او پامیرته نزدې سته او و ګړی دسپارلې اوحمل اونقل کار ځینی اخلی .

مېښه: دمملکت په لمر ختیز او سهیل اوسهیلی لمر لوړدو کښی روزل کیږی. ددرنو ګاډیو او کراچیودکشولو کارځینی اخلی اوهمئی شیدی چه «دغوړوله کبله شهرت لری» ورڅخه اخلی .

مشهور کورنی مرغان : چرګه چه یوډول ئی سبز واری ده ډیری هګۍ اچوی . کلنګیچرګترخسکی چرګ لوی ، جګ اوغښتلی دی اواغلباً دجنګ دپاره ئی روزی او ساتی اوهم ئی غوښی اوهګۍ خوری . په افغانستان کښی د چرګو شمېر (٤٠) ملیونوته رسیږی . په ځینو ځایو کښی بته ، پیلچرګ (پیلمرغ) اوهېلۍ همموجودی دی . تیتر Pantade خورا لږ پیدا کیږی . دښتی مرغان (لکه زرکی ، کوتری، کرک، چوغکه، دښتی چرګ، سیسۍ، دښتی بته، لګ لګ ډینګ، خراړه، تارو، هېلۍ، قو، سونه هېلۍ، د غره چرګ (کبك دری) کف خورك، تقلق، ګزلنګ، کوتانه، زانې دامرغان دمملکت په ښلو ښلو برخو خصوصاً قطب او سهیل لمر لوړدو خواؤ کښی موندل کیږی .

دښتی ځاروی : هوسۍ، غرڅه، زمری ،شرمښ، پرانګ، کوږ، ګیدړه، سور لنډی، یږ، سوی، خفك، خانې، اوبی سپی : سمور ، بزو ،غش غویی ، سرکوزی،مښك پرانګ ، سمساره، اوښۍ دی .

دقطغن او بدخشان په ځنګلو نو کښی زمری او پرانګ اوپه ګرشك کښی خفك، پهشمالی برخو (قطغن او بدخشان ) کښی سمور او دآمو او کوکچی په رودو کښی د اوبوسپی، په اکثرو منځنیو برخو کښی شرمښ ، پهقندهار اوګرمسیر کښی ګوړاخر اوکوږ اوپه بدخشان اوواخان کښی غش غویی اوپه اکثرو نورو برخو (سیغان ، کمهرد ، د بغرا په ډګرو او کرمسیر) کښی ګیدړه او سوی او دقطغن په شاؤ خوا ځنګلو کښی یږ او سرکوزی پیدا کیږی .

دمارانو لهجملې څخه کیچهمار، لنډۍ (ګوسنه ) چهلنډ او ایرن ماردی دغهډول داوبومار اواپیمار ، مشهوردی .

دکبانو لهجملې څخه د (قنات کب) دیادېدو وړدی چهسپین نقرهئی خورکیلری اواوزدوالی ئې۱۲سانتیمتره وی . بل کب درېزقنات دی دقزلآلا کبچهپهفرانسوی ئې «تروېټTruite» بولی دقطبی خوا پهاوبو کښیپیدا کیږی . دآمو رود په قطبی اوبو کښې «ریش کب» او «بروشه» او «شوون Chevaine» کبان موندل کیږی .

په افغانستان کښې د حشراتو ډولونه ډير دی اومهم ئې په لاندې ډول دی :

۱- په لمرختيزه برخه کښې Epilachna - Dodecastigma او ازوفورا - پو نسيلا Euzophora - poncella چه پر سبزيجاتو حمله کوی . دبانجنو پربوټو ليدل شوی دی . يوډول طلائی وزره کلکه حشره چه Aulacopho.rafoueicollis نومينزی . پر کډو اودخټکی مچ چه Myioparadalispardalina نومينزی پر خټکی او کدو حمله کوی . يوډول سور مينزی چه Pedant نومينزی هم په لمر ختيزه خوا کښې ليدل کيږی . دشنه رنگ حشراتو څخه چه معمولی نوم ئې «دخدای اوښ» دی ډوډول ئې سټاټيليا Statilia maculata دی چه «ډکې» ته نژدې ليدل شوی دی .

۲- دکابل په شاؤ خوا کښې ډول ډول نباتی سپږی ـ شته دی چه په دوی کښې مشهو ری د شفتالو د پانو سپږی ـ د آلو او زردالو د پانو سپږی ـ د چنار د پانو سپږی ـ او د گل د بوټو سپږی ـ دی .

تر ټولو مهم او تاوان رسو ونکې حشره چه خصوصاً پرمنه باندی حمله کوی دمنې بورا اود منې غنه ده چه د اکثرو مېوه لرونکو ونو پانو ،لکه آلو او بادام ، ته تاوان رسوی بله حشره چه په افغانستان پوری اختصاص لری ، د چنار د پانې حشره ده چه په چهاردهی او نورو ځايو کښې پر و نو حملی کوی ،دغه ډول دمنې دلرگو خوړونکې حشره ده چه د منې دونی ترپوټو کی لاندی ليدل شوې ده . پورتنی اکثره مضره حشرات په خپل مقابل کښې ، ضد حشرات هم لری چه دوی محو کوی اوله منځه ئې وړی لکه د سير فدا Syrphidae ډول چه په نو رو شپږيوژوندون کوی اودوی له منځه وړی لکه سټاټرفس کانفرټر Styrphus confrater چه د آلو په سپږی ـ ژوندون کوی او Hyaiopterusarundinis چه دزرد الو پرسپږی ـ حمله کوی او خوری ئې .

د پغمان په شاؤ خوا کښې يو تعداد سپږی ـ سته چه مراد دشفتالواواغوزسپږی ـ دی دغه ډول دولی سپږی ـ Aphislaburni او Pterochlorus-saltgna نو مينزی . د چنار اوغنج چنار ـ پرچنار حمله کوی .لمړی ـ سپنزه د پانو شيره ژبښی او دو همه سپنزه په پانو کښې پر سوب پيدا کوی . د بورا ځينی ډو لو نه لکه (Pamphilus) او ( Coenonympha) او (Coliashyalcerate) او(Polyommatus icarus fugitiva) او(Pieris rapa) هم په پغمان او دهغه په شاؤ خوا کښې ليدل کيږی . دکلکو و زرو خاوندانو څخه Chrysomela populi دی چه دولو پرپانو ليدل شوی دی ،ليکن په خپل وار دبلی حشری لەخوا چه(Ithone exspilota) نومينزی پردی حمله کيږی. بله حشره چه(Platymycterus afghianistanicus ) نو مينزی د گلاب اودختمی گل پرپانو ليدل کيږی. يومخصوص طلائی سوسک هم ليدل شوی ـ ی چه پرځينو سپنزيو حملې کوی. دسوسک نورډولونه لکه(Cincidellabigemina) اوGymnopleurusflagillatus اود (Onthophagus) نوعدی چه دلته درېلو وړ دی .هغه شی چه مهم دی دادی چه دمنو بورا غنج په ډير تعداد سره دشالسيدونو (Chalcids) له خوا تلف کيږی او له دې شالسيدونو څخه ( Pteromoluspuparum ) او ( Monodontonerus ) اوهم مشهور (Pleurotropis) شالسيد ذکروړی . يو ډول تاکنيد (Tachinid) پر(Pyrmeis caadui) چنجيانو اوځينی سرفيډونه لکه (Scoeva albomaculta) اوپاراگوس سراتوسی پرافيډو حملې کوی .

په غوربند کښې دتوت ونه دسيکاډا (Cycada ) د حشری لەخوا ترحملې لاندی واقع کيږی .ځينی افيډ حشرات پرشفتالو اوبادام حملې کوې . دايريو زوما (Eriosoma) نوع د چنار دوئی پرتنه باندی پاړسوبونه پيدا کوی .يوډول طلائی سوسک پر انورا فيسا نو با ندی حمله کوی. داشی د گټورو حشراتو وجود چه پرتاوان رسوونکو حشراتو باندی حملې کوی زموږ دانظريه چه دزيان منو حشراتو په مقابل کښې يو شمير گټور حشرات هم شته دی ثا بتوی .

دمزارشريف دولايت په برخو کښې چه دهغه محيطی شرائط نسبت وکابل ته بېل دی ، بېل او مخصوص حشرات ليدل کيږی چه لەهغو څخه مهم په لاندنی ډول دی .

۱- دزبښېدونکو حشراتو لەجملې څخه يو ډول کټمل او آبی کټمل ستەچه په قندوز کښې زيات ليدل شوی دی . په دوآب ميخ ز ر ی ـ ن ک ـ ښ ـ ی ( Carpocoris Fuscipinus ) ا و (Eurydema Festivum) او په ايبک کښې Brachynemacineta ا و (Lyguspratensis) او د مزار شريف ولايت ته نژ دی (Adelt, Coris, lineolatus) د ذکر وړی . دبورا گانو لەډولونو څخه دجوارودپانو بورا په ايبکو کښې ليدل شوې ده چه پر چنار حمله کوی او (Polymmatus ,icarusfugitiva) په خان آباد او (Apopest speetrum) د مزارشريف په ولايت کښې ليدل شوی ده مگرددې ټولو حشراتو چه پورته ئې ذکر وشو تاوان ډير لږ دی ، ځکه چه په ځينو ځايو کښې په ډيرلږ تعداد سره ليدل شوی دی . بايد وويل شی چه په سړوکلو کښې ددې حشراتو څخه اکثره له منځه ځی او هيڅ اثر ئې نه ليدل کيږی . دغه معلومات چه موږ ئې دلته ليکودغنی معلوماتو لەرويه دی چه دطبيعی فون(Faune) په ضمن کښې ئې تذکار کيږی. دکلکو وزرو حشراتو لەډلې څخه يوهم ( Epicauta erythroeeplalus) دی چه دبغلان پر چغندرو باندی ليدل شوی دی . بل کلک وزره

حشره چه نوم ئې (Epilachna dodecastigma)دی او پالیزوته تاوان رسوی دویلو وړده . د مچخوله‌جملی څخه مراکشی مچ چه(Dauciostorus marocanus) نومیږی‌او پرته‌لهدې په ځینو ځایو کښې په لږتعداد ایتالوی‌مچ هم لیدل‌شوی‌دی چه په‌تېرو کلو کښې‌ئی کر هغو او پټیوته تاوانونه رسو لی دی او اوس دلازمه تدابیرو په‌سبب دهغو ضرر او تاوان له منځه تللی‌دی او یوه‌یوه دانه دنمونې په‌ډول لیدل کیږی . کلك وزری حشره چه‌دمضره حشراتو ضددی اوتعدادئی‌لږدی اوه نقطه ئې سوسك دی‌چه دګټورو حشراتو له‌جملې‌څخه شمیرل کیږی . د غزنی او اوهزاره جاتو په برخو کښې مخصوص حشرات‌ستە چه دمحیطی شرائطو سره‌زیات تناسب لری . په‌غزنی کښې د کابل دنباتاتو مخصوصه‌سپیږی‌ لکه (Apnis laburne)او نور لیدل‌شوی‌دی ، او هم دمنې غنه او دمنې غنج اوپت لرونکی چینجی دغزنی پر اکثرو ونو حملې کړی دی‌لکن تراوسه‌ئی په قطعی ډول‌سره مدافعه نه ده‌شوې .پرته لهدې‌نور حشرات هم چه دهغوی تاوان ښکاره نه‌دی اویاخورا محدوددی‌لکه(Catocala afghanica) او(Namophila noctuella) د ویلو وړدی . دافغانستان په سهیل لمر لوبدو خواوو ، یعنی قندهار ، ګرشك او نورو کښې سپیږی‌ نه‌لیدله کیږی ، سور خمونیك، خسك پرولو او چنارو اوبله حشره چه نوم‌ئی (Stephanitis pyri) دی دمنو پرونو لیدل شوی دی . دبوراګانوله ډولو څخه د (Codlingmoth) ډوله بوراپر منو، باداموادزردالو په ونو باندی لیدله کیږی پرته لهدې «ناکتولا فلورالس» او«نوموفیلا ناکتولا » نومی بوراګان د ذکر وړدی . مخصوص طلائی سوسك چه نوم ئې (ادالیا دسمیونی تاتا) دی دګټورو او دیاد داشت وړ حشراتو له‌ډلی څخه‌دی چه دچنار پرسپیږیو باندی حمله کوی . بل سوسك (سمهارمونیا کانګلو باتا)دی‌چه د زردالوپر سپیږ یوحمله کوی پورتنی حشرات چه دافغانستان په‌بیلو برخو کښې وښودل شول یوازی د«څارویو» دمعلوماتو له‌رویه‌دی . ددوی څخه اکثرو پرته‌له‌پټ‌لرونکی چینجی اوغنی کوم مهم تاوان‌نه‌دی رسولی‌او نه ددوی تاوان تراوسه ښکاره شوی دی لکه چه ددوی تعداد محدود او ددوی ضد حشرات ډیردی . نور حشرات چه په‌ټول افغانستان کښې لیدل کیږی لکه ( ژیړه اوسره غالبوزه، تنده غالبوزه ، مېږی اوهغه حشره چه د «اوبو مور» بلله کیږی او «کانتریډ» او «چنګیتاز» «جد جد» او هغه حشرات چه په‌پانو کښې پارسوب‌جوړوی‌اوهنتون(Hanneton) او (دغنموسوسك) او(ستن) (بنبیرك) او (فوفیکول) اود (ورزیوموز) او(کټمل) . او (لرم) هم موندل کیږی .

دشاتو مچمچې چه دګټورو حشراتو څخه ده دمشرقی او جنو بی په ځنګلونو او تګاب او نجراب کښې په طبیعی ډول ژوندکوی اووګړی ددوی‌له‌شاتوځخه ګټی اخلی . د ورښمو چینجی دمملکت په بیلو برخولکه قطغن ، میمنه ، بدخشان او دمزارشریف په‌ولایت خصوصاً هرات کښې روزل کیږی اوهم دمشرقی په‌سرو ځایو او دجنوبی دولایت په ځینو ځایو کښې روزل کیږی . دورښمو چینجی عمو میت‌لهدې کبله دی چه‌دتوت ونی چه دورښمو چینجی د هغوی په پانو خوړلو باندی ژوند کوی ،بیله‌دی چه دافغانستان په منځنی غرو (هزاره‌جات) کښې نشته ،په نورو اکثرو ځایو کښې شنه کیږی ، ځکه نود ورښمو دچنجیو د روزنی امکان هرځای موجود دی ، داوبو د حشراتو له‌جملې‌څخه «هایډروفیل Hydrophyle»او«دای‌تك Dytique» دویلو وړدی .

**۱۰-شنیلی( نباتات):** لکه دمخه چه دحیواناتو په بحث کې مو‌ویلی‌وو چه دنوع بیلوالی ، دژوند بیلوالی‌اودشرائطو بیلوالی دنتیجې‌بیلوالی‌دی، که مونږوغواړو چه‌دهری‌نوعې په‌خصوصیاتو ښه‌وپوهیږو، ښائی چه دهری‌نوعی دمحیط شرائط چه‌په هغه کی ژوندکوی په‌ښه‌ډول‌و ګورو اوهم باید په‌دې پوه‌شو چه‌ټول موثر او اغیزه ناك عوا مل یو ډول او په یـوه در جه پر حیوا ناتو او نبا تا تو اغیزه نه کـوی بلـکه داهم کیدای شی چه‌ددوی څخه یویادوه تر نورو عواملو ډېر اغیزه ناك وی لـکه چه په افغانستان کی د محیط موثر عوامل،چه‌دحیوان او نبات‌دذات‌اویاصفات بیلوونکی‌دی،دتودوالی ددرجی ، دهوا دلمدبل ، دخاوری دتشکیل او ترکیب دخوړلو دشیانو دبیلوالی داوبو دخصوصاتو او دلوړ والی د درجی څخه عبارت‌دی.ددې جملو څخه‌تر ټولوئې‌تودوالی‌اولوړوالی‌مهم‌دی ، ځکه‌چه‌په اکثرو کی‌تود والی هم‌دلوړوالی ددرجی له‌رویه تغیر خوری.مونږدا کولی‌شووچه‌دحرارت‌یاتودوالی‌عامل هم‌دلوړوالی په‌درجه کی‌پټ‌وشمیرو اولوړوالی‌دنباتاتودتشخیص اوطبقه‌بندی‌ مهم عامل وګڼو . په‌دې ځای کی داهم موږ بایدزیاته کړو چه دلوړوالی درجه‌په‌نباتاتو کی‌مهم‌اوموثرعامل‌اونسبت و حیواناتو ته‌لوی اومهم رول‌لوبوی‌ځکه‌حیوان دلوړوالی‌په‌تغیر سره نسبت نبات ته‌لږ متاثر کیږی دموضوع د روښانولو او پراخوالی دپاره لاندنی معلومات ورکول کیږی‌چه د لوړوالی د درجی تغیر تر کومه حده پوری دنباتاتو دجنس په تغیر او تعین اود جغرافیائی حدودو په‌بیلوالی اوتحدید پورې اړه لری :

| درجه | لوړوالی | دنبات نوعیت |
|---|---|---|
| په‌مینځ د-۳۳۸۰ تر | ۳۴۰۰مترو | اوربشی‌دپالیدم‌او کولست یوډول |
| په‌لوړوالی د | ۳۳۰۰ مترو | دپسرلی‌غنم |
| په‌لوړوالی د۳۱۳۰تر | ۳۱۵۰ مترو | دپسرلی چنی او جودر |
| په‌لوړوالی د | ۳۱۰۰ مترو | دمشنګودډولونه،چنی‌اوترپ |

| درجه | لوړوالی متر | دنبات نوعیت |
|---|---|---|
| په لوړوالی د | ۳۰۰۰ مترو | زغر، شړ شم ، کلول . |
| په لوړوالی د ۱۰۰۰ تر | ۲۰۰۰ مترو | رشقه ( دشپیشتو تخم په لږ لوړوالی پخیدو ته رسیږی.) |
| په لوړوالی د | ۲۹۰۰ مترو | زردالو (ندر تانوری میوې) |
| په لوړوالی د | ۲۸۴۰ مترو | کوکنار |
| په لوړوالی د | ۲۸۰۰ مترو | نسك (دمنی غنم ، د منی جودر،شوتل) |
| په لوړوالی د | ۲۶۵۰ مترو | چمبرخیار، گازری، ترپ، بادرنگ . |
| په لوړوالی د | ۲۶۱۰ مترو | زدن ( ایطالوی زدن) |
| په لوړوالی د | ۲۶۰۰ مترو | تمباکو ، پټاتی . |
| په لوړوالی د | ۲۵۲۰ مترو | یو ډول طبی نبات چه (Calendula) ورته وائی |
| په لوړوالی د | ۲۵۰۰ مترو | ( بې میوی) مڼه |
| په لوړوالی د | ۲۴۵۰ مترو | اغوزونه (جوز) |
| په لوړوالی د | ۲۴۱۰ مترو | صراحی کډوچه ریمه Cicer ورته وائی |
| په لوړوالی د | ۲۴۰۰ مترو | خټکی |
| په لوړوالی د | ۲۳۶۵ مترو | بادام ، شفتالو ، توت ، لمر گلی، سپېر کی |
| په لوړوالی د | ۲۲۵۰ مترو | تاك،معمولی میوه، بهی . |
| په لوړوالی د | ۲۱۸۵ مترو | مې . |
| په لوړوالی د | ۲۱۶۵ مترو | سنځلی ، ور یجی . |
| په لوړوالی د | ۲۱۰۵ مترو | مالوچ |
| په لوړوالی د | ۲۱۰۰ مترو | انگور |
| په لوړوالی د | ۲۰۰۰ مترو | هندوانې |
| په لوړوالی د | ۱۹۵۰ مترو | انار |
| په لوړوالی د | ۱۹۲۰ مترو | انگنار،پروشلیم، دولانه |
| په لوړوالی د | ۱۹۰۰ مترو | کونځلې |
| په لوړوالی د | ۱۷۸۰ مترو | پنجه چنار،تورئی (ترائی) |
| په لوړوالی د | ۱۰۷۰ مترو | نارنج . |
| په لوړوالی د | ۱۰۴۰ مترو | گنی |
| په لوړوالی د | ۹۵۰ مترو | مخر و طی سبر ،و له ، انځر . |
| په لوړوالی د | ۸۶۰ مترو | دخرما ونه |
| په لوړوالی د | ۶۶۰ مترو | دمینو لیالوی پانې و نه ، بانس. |

دغه معلومات ډیره لوړه نقطه ښکاره کوی چه یو نبات ور رسیدلی دی اما په مجموعی صورت سره او دزراعتی مناطقو او دمحیط دروزنی له رویه معمولی نباتات د ډې لوړوالو په نسبت ډېر کښته دی اوهغه دادی :

| درجه | لوړوالی | دنبات نوعیت |
|---|---|---|
| په منځ د | ۳۰۰۰ تر ۳۴۰۰ مترو | بې پوسته اوربشی او پوست داره اوربشی،چنی،لوبیا،مشنگ،شړشم زغر،کلول ، شوتل، اوباقلی. |
| په منځ د | ۲۰۰۰ تر ۲۵۰۰ مترو | پوستکی لرونکی اوربشی دمنی لوپسرلی غنم،دمنی جودر ، چنی ، لوبیا ، زغر ، شړ شم نسك ، شوتل ، اغوز ، توت |

دغه منطقه باید د توتو ، اومنگنیو غنمو منطقه وگڼله شی . ( شوتل اورشقه) د ۱۵۰۰ د لوړوالی څخه تر ۲۰۰۰ مترو پورې ډیر نباتات لیدل کیږی اوهم د تنوع دایره ئی پراخه ده لکه د منی غنم،انگور، کونځلی ، ریمه ،چنار او ډیری میوه لرونکی ونی مخصوصاً هر ډول انگور. د ۱۰۰۰ مترلوړوالی څخه تر ۱۵۰۰ پورې دمالوچو، وریجو اوهر ډول پالیزو د پاره ځانگړی منطقه ده .

دهندوکش دغره دزرومترو لاندی د تودو مملکتو نباتات لکه گنی ، خرما ، نار نج او نورلیدل کیږی . د پورتنیو معلوماتو څخه دا څر گندیږی چه لوړ والی دجنسو په تغیر اوتبدیل کی څومره اغیزه لری، که څه هم پورتنی چوکاټ چه پدی محدودیت سره ښکاره شوی دی، اصلی چوکاټ نه دی ، بلکه یولاستیکی در جه لری لکه چه دهندوکش دلمنو تر ۲۰۰۰ متره لوړوالی پورې هم منی کیږی همدا ډول په قندهار گی چه له ۱۰۰۰ مترو څخه زیات لوړوالی نلری،هم منی شنې کیږی ، مگر دخواصو په لحاظ د دغو دوو پورتنیو منطقو منی ډېر توپیر سره لری . اوس چه د آب اوهوا اودنباتاتو دجنسو په تفریق کښی دلوړوالی په اهمیت وپوهیدونو دافغانستان د نباتاتو دمهمو ډولونو په څر گندولو چه گرده ئی دنباتی مجموعی یا (فلور Flore) په نامه یادیږی پیل کوو او هغه دادی :

الف غلې : په غلو کی غنم، اوربشی، جوار، جودر، زدن ، گډون لری :

۱ ـ غنم : دمطالعاتو له رویه په افغانستان کی دنرمو غنمو Soft Wheat او للسمی یاد یمه غنمو ( Triticum Vulgare) ډېرې نوعی شته دی داهیواد دغنمود ډولونود تعداد له مخی ترنورو مملکتو دمخه دی که څه هم دنرمو غنمود تنوع له رویه پخوا ایران مخکښی ؤ اما افغانستان اوس لږ څنی دمخه شوی دی. او په افغانستان کی دنرمو غنمو اووه نوعی پیداشوی دی چه تردې زیات هم گمان کیږی چه پیداشی .

دنرمو غنمو په نوعو کی لشکی لرونکی یاموی ه دار (Awned) غنم ډېر لیدل کیږی مثلا سره شانته غنم یاسرخك یاسرې دانی والا او یو ډول سپین چك موی ه دار Var.Graecum او یو ډول سوروزی سپین دانه Var Ergthroloucon او یو ډول سوردانه او سور موی ه

(Var.Peruginum) غنم . دغه ډولونه ټول‌دمویه‌دارو دنوعی څخه دی . دبی مویه غنمو ډولونه نسبتا لږدی د بی مویه غنمو نوعی یادغرو په لوړو برخو کی یا دمویه‌داروغنمو دنوعو په منځ کی د افغانستان په شمالی برخو کی لیدل کیږی . پرځالی ګلومونو (ګلوم‌دهغو کوچنیو پانوڅخه عبارت دی چه دغنمو پردانو باندی راګرزیدلی‌وی) دغه مویه چه لیدله کیږی دمویورنګ، دګلو مونو رنګ، رګونه اوشکل ئی حتی تورووالی چه پرمویو باندی لیدل کیږی دغنمو دنوعیت په‌تعین اوتفریق کی لوی رول لوبوی . ددانو دشکل په خصوص کی هم‌ډیرتغیرات پیښیږی‌بیضوی اوږدی‌دانی د مخصوصو قطرونو سره لیدل کیږی دغه‌ډول‌زبانچه لرونکی نوعی اوبی زبانچی لرونکی نوعی هم ډیری دی اوددوی په‌منځ کی مشترك حالات هم لیدل کیږی دبی زبانچی نوعی دبدخشان اونورستان دغرو په لوړو برخو کی شته‌چه د۲۷۰۰ لوړوالی څخه تر ۳۱۰۰ متره پوری لیدل کیږی دافغانستان په نورو برخو کی نرم‌غنم بی زبانچی نه‌دی لیدل شوی . « واویلوف » مشهور روسی عالم داډول غنم یوازی په تاجکستان ، شغنان، روښان او دبدخشان په غرونو کی لیدلی دی . دجنس ګډبدل د تجربو له‌رویه ثابت شوی دی چه دبی زبانچی نوعی دلوړوالی دتغیر له رویه په زبانچه لرونکوسره اوښتی دی د زبانچی لرونکی غنمو دډیروالی نسبت‌دبی زبانچی لرونکی‌ته (۲۰) او (۱)دی.

آبی سخت غنم : دا دغنمو دو هم شق دی لکه نرم غنم ډیری نوعی لری داوبو د غنمو څای دافغانستان په جنوب شرقی خواوو کی‌دی، دکابل او دهغه په شاوخواکی هم داوبو دغنمو اثرات لیدل کیږی اودغه نوعی د ۱۶۰۰ لوړوالی څخه تر۲۳۰۰ متره پوری لیدل کیږی منګنیږ نوعی‌ئی دپسرلنی ونوعوته نسبت ډیردی دافغانستان داوبو غنم مطلوبه خواص نه لری د(ګلوتن) مقدار چه غنمولره صفت اوقیمت ورکوی دلسوڅخه بیاتر۱۲ پوری په‌سلو کی‌موجود دی اماپه‌للمی‌غنمو کی‌دګلوتن مقدار په‌سل کی‌له۱۵ تر۱۶پوری‌دی څکه نوللمی غنم پرآبی غنموښه‌دی موږ دلته د افغانستان‌غنم دمناطقو له‌رویه چه پکښی پیدا کیږی په لاندی‌ډول‌ویشو :

الف : نرې غنم یاللمی‌غنم :

(۱) په‌کابل اودهغه په‌شاوخواکی ۲ په شمال ۳ په جنوب ٤ پههرات ٥ په‌بدخشان ٦ په‌مشرقی کی کیږی .

ب:آبی‌غنم:۱-په‌کابل‌اودهغه په خواوشاکی ۲-په‌شمالی‌خواووکی ۳- په‌جنوبی خواوو ٤- په هرات ٥- په بدخشان او نور ټول وطن کی کیږی .نری‌غنم‌عمومًاللمی‌دی او آبی‌ډولونه هم‌لری : لومړی نوع: دکابل‌اودهغه دشاوخوا نری‌غنم‌توری کوچنی‌پانی اوسری لښتی اوتوری‌لښکی لری‌اودانی ئې‌سری‌دی دپیدا کیدو څای‌ئی دغروسیمی‌دی اوپه ځینو نوروځایو کی لږپیدا کیږی .

دوهمه‌نوع : توری‌پانی‌په‌سپینی‌ژیړبخونی‌مخکی کی‌توري‌لښکی سره دانه دغروپه سیمو کی ډیرلږ پیدا کیږی

دریمه‌نوع : سپین وزی توري‌لښکی‌سپینه‌دانه د پیدا کیدوځای ئی کابل اوټول افغا نستان

څلرمه‌نوع : سپین وزی سره دانه، سپینی لښکی د پیدا کیدو څای ئی کابل .

پنځمه‌نوع : سره وزی، سپینه دانه سری لښکی د پیدا کیدو څای‌ئی کابل اودکابل شا وخوا اوافغانستان اکثر ځایونه .

شپږمه‌نوع : سره وزی سپینه‌دانه ، توری‌لښکی د پیدا کیدو څای‌ئی کابل اوشاؤ خوائی .

اووه‌نوع : سره وزی، سره‌دانه سری‌لښکی دپیدا کیدو څای ئې کابل او دکابل شاوخوا

اته‌نوع : سره‌وزی، سري‌دانی، سري‌لښکی‌دپیدا کیدو څای‌ئی کابل اود کابل شاوخوا

نهه‌نوع : سپین بی‌لښکووزی ، سپینه‌دانه دپیدا کیدوځای‌ئی کابل اودکابل شاوخوا

لسمه‌نوع : سره بی‌لښکووزی، سپینه‌دانه دپیدا کیدو څای ئی کابل اودکابل شاو خوا

یوولسمه نوع : سپین‌بی‌لښکو وزی سپینه‌پنډه دانه دپیدا کیدو څای‌ئی غزنی

دوولسمه‌نوع : سپین‌بی‌لښکووزی، سره‌پنډه دانه د پیدا کیدو څای ئی کابل اود کابل شاوخوا

دیارلسمه نوع : سره وزی پنډه سپینه‌دانه ،دپیدا کیدو څای ئی کابل او دکابل شاوخوا .

څلورلسمه‌نوع : سره‌وزی،پنډه سره‌دانه‌دپیدا کیدوځای‌ئی کابل او‌دکابل شاوخوا .

پنځلسمه نوع : سپین‌وزی ، سره‌دانه د پیدا کیدو څای‌ئی کابل او دپنجشیر سیمی .

آبی‌غنم دافغانستان په‌شمال کی:

اوله‌نوع : سپین‌وزی غنم سپینه دانه، دپیدا کیدو څای‌ئی د افغانستان شمالی خواوی .

دوهمه‌نوع : سپین‌وزی بی لښکو ، سپینه دا نه غنم‌دپیدا کیدو څای‌ئی د افغانستان شمالی‌خواوی اونور ځایونه

دریمه نوع : سپین وزی سپین لښکی سره‌دانه‌دپیدا کیدوځای ئی دافغانستان شمالی خواوی او نور ځایونه .

څلرمه نوع : سوروزی .سره لیشکی سپینه دانه‌غنمد پیدا کیدو څای ئی د افغانستان شمالی‌خواوی اونور ځایونه .

پنځمه نوع : سوروزی.سره‌دانه ، سره لیشکی‌دپیدا کیدوځای‌ئی دافغانستان شمالی خواوی اونورځایونه

شپږمه نوع : سپین‌وزی ، سپینه دانه‌توري‌لښکی‌دپیدا کیدوځای ئی میمنه ، قطغن ، اونورځایونه

اوومه نوعه : سوروزی،سپینه‌دانه تورلپشکی‌دپیدا کیدو ځای‌ئی میمنه او قطغن

اتمه نوعه : توروزی، سره‌دانه، دپیدا کیدوځای‌ئی‌میمنه اوقطغن

نهمه‌نوعه : سپین وزی بی‌لپشکی سپینه‌دانه دپیدا کیدوځای ئی دافغانستان شمالی خواوی

لسمه‌نوعه : سوروزی، سپینه‌دانه،سپین‌لپشکی دپیدا کیدوځای ئی دافغانستان شمالی خواوی

یوولسمه‌نوعه : سوروزی ، سره‌دانه ، ، تورلیشك د پیدا کیدو ځای‌ئی قطغن، مزارشریف او بدخشان

دوولسمه نوعه : سوروزی‌غنم پنډه سره‌دانه ، دپیدا کیدوځای ئی قطغن او بدخشان

دیارلسمه نوعه : سپین‌وزی بی‌لپشکی سپینه‌دانه،دپیدا کیدوځای ئی قطغن، مزارشریف،میمنه او دافغانستان نورځایونه.

څورلسمه نوعه : سوروزی، لپشك لرونکی ، سپینه‌دانه، دپیدا کیدوځای‌ئی‌قطغن،مزارشریف،میمنه،اودافغانستان نورځایونه

آبی غنم دافغانستان په‌جنوب اوجنوب غربی خواووکی :

اوله‌نوعه: سوروزی، سپینه‌دانه، بی لپشکی د پیدا کید وځای‌ئی د قندهار ولایت او گرشك

دوهمه‌نوعه: سوروزی بی‌لپشکی سره دانه ،دپیدا کید وځای‌ئی د قندهار ولایت او گرشك

دریمه‌نوعه: سپین‌وزی لپشکی‌لرونکی سره دانه ، دپیدا کید و ځای ئی دقندهار ولایت

څلرمه‌نوعه : سپین‌وزی ، سره‌دانه بی لپشکی، سره رینبه دپیدا کیدو ځای‌ئی‌قندهار ،گرشك ، گرم‌سیر ، فراه ، چخانسور اونور اوځایونه

پنځمه‌نوعه: سپین‌وزی ، بی لپشکی ، سپینه دانه ، سره رینبه دپیدا کیدوځای‌ئی قندهار، گرشك، گرم‌سیر ، فراه چخا نسور اونورځایونه

شپږمه‌نوعه: سوروزی ، سره‌دانه سره‌رینبه دپیدا کیدو ځای ئی قندهار، گرشك، گرم‌سیر ، فراه، چخانسوراونورځایونه

اوومه نوعه: سپین‌وزی لیشك لرونکی . سپینه‌دانه، سپینه رینبه دپیدا کیدوځای‌ئی قندهار اودافغانستان نورځایونه

اتمه‌نوعه: سپین‌وزی لیشك‌لرونکی ، سره‌دانه، سپینه‌رینبه دپیدا کیدو ځای ئی قندهار اوفراه

نهمه‌نوعه:سوروزی سپینه دانه ، سره رینبه د پیدا کید وځای ئی قند هار ، فراه

لسمه نوعه: سوروزی ، سره‌دانه ، سره رینبه دپیدا کیدوځای‌ئی قندهار اوفراه

یوولسمه‌نوعه:توروزی،سپینه‌دانه‌دپیدا کیدوځای‌ئی‌دقندهار ولایت

دوولسمه‌نوعه: سوروزی ، سپینه دانه ، دپیدا کید و ځا ی ئی دقند هار ولایت

دیارلسمه‌نوعه: سوروزی،سره‌دانه بی‌لیشکو د پیدا کیدوځای‌ئی قندهار ، گرشك

څورلسمو نوعه : سپین‌وزی ، سپینه‌دانه . سپینه‌رینبه د پیدا کیدو ځای‌ئی قندهار، گرشك،فراه، چخانسوراونورځایونه

پنځلسمه‌نوعه : سپین‌وزی، سپینه‌دانه، توره رینبه دپیدا کیدوځای ئی قندهار اوگرشك

نری غنم دافغانستان په‌غرب اوشمال غربی خواووکی :

هرات اودهرات بادغیسات .

اوله نوعه ، سپین‌وزی بی‌لپشکو سپینه‌دانه ، سپینه رینبه دپیدا کیدوځای ئی‌هرات ، باد غیسات اونور ځایونه

دوهمه نوعه : بی‌لیشکو سپینه‌وزی ، سره‌دانه، سپین رینبه‌دپیدا کیدو ځای‌ئی‌هرات، باد غیسات اونورځایونه

دریمه نوعه : سوروزی ، سپینه‌دانه ، سورلیشکی د پیدا کیدو ځای ئی‌هرات، باد غیسات اونورځایونه

څلرمه نوعه : سوروزی ، سپینه‌دانه ، سور لیشکی دپیدا کیدو ځای ئی‌هرات، بادغیسات او نورځایونه

پنځمه نوعه : خړوزی ، آبی رنگه ، سور بخنه سره دانه د پیدا کید و ځای‌ئی د هرات ولایت

شپږمه نوعه : سپین‌لیشکی لرونکی وزی، توره‌رینبه، سپین‌دانه دپیدا کیدوځای ئی هرات اود افغانستان نور ځایونه.

اوومه نوعه : سپین‌لیشکی لرونکی‌وزی ،سره دانه، سپین رینبه دپیدا کیدوځای‌نی هرات اودافغانستان نور ځا یونه

اتمه نوعه : سوروزی ، سپین دانه، سره رینبه دپیدا کیدوځای ئی هرات او دافغانستان نورځا یونه

نهمه نوعه : سوروزی، سره‌دانه ، سره‌رینبه دپیدا کیدو ځای‌ئی هرات ، قندهار اودافغانستان نورځایونه

لسمه‌نوعه : توروزی،توریپانې،ژیړه‌زمینه،سپینه‌دانه‌دپیدا کیدو ځای ئی هرات اوبادغیسات

یوولسمه نوعه : توروزی ، سپین‌دانه دپیدا کید و ځای‌ئی هرات

دوولسمه نوعه : توروزی ، سره‌دانه دپیدا کیدو ځای‌ئی هرات

دیار لسمه‌نوعه : سوروزی ، سپین دانه ، سپین پانې اود پانې سرونه‌ئی‌تور دپیدا کیدوځای‌ئی‌هرات،قندهار

څوارلسمه نوعه: بی‌لیشکووزی،سپینه، دانه سپین‌رینبه دپیدا کیدو ځای‌ئی هرات، قندهاراو فراه

پنځلسمه‌نوعه : سره‌وزی سپینه‌دانه ، دپیدا کید وځای‌ئی‌هرات.

شپاړلسمه نوعه : سوروزی ، سره‌دانه ، کوچنی رینبه د پیدا کید و ځای ئی هرات

اولسمه نوعه : سپین وزی ، سپینه دانه ، سپین ریښه د پیدا کیدو ځای ئی هرات اوقندهار

اتلسمه نوعه : سوروزی ، سره دانه ، سره ریښه پیدا کیدو ځای ئی هرات اوقندهار

نری غنم دافغانستان په شمال شرق (بدخشان) کښی :

اوله نوعه : اوبه رنگی خړوزی ، سره زمینه ، سره دانه د پیدا کیدو ځای ئی بدخشان اوقندهار

دوهمه نوعه : سپین وزی ، سپین دانه ، تورریښه د پیدا کیدو ځای ئی بدخشان اوقطغن

دریمه نوعه ، سوروزی ، سپین دانه ، تورریښه د پیدا کیدو ځای ئی بدخشان ، قطغن

څلرمه نوعه ، آبی رنگه خړوزی ، سپین دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی بدخشان

پنځمه نوعه : سپین بی لپشك لرونکی وزی سپینه دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی ، بدخشان ، هرات ، قندهار

شپږمه نوعه : سپین وزی . پنډه سپینه دانه د پیدا کید و ځای ئی بدخشان ، هرات ، قندهار

اوومه نوعه : سپین بی لیشکو وزی ، پنډه سره دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی بدخشان

اتمه نوعه : بی زبانچی غنم ، بی لیشکو وزی ، یا کوچنی ریښه لرونکی ، سپینه دانه ، د پیدا کیدو ځای د بدخشان په غرونو کی

نهمه نوعه : بی لیشکو وزی ، سره دانه ، ( دبدخشان اوپامیریو ډول بی زبانچی غنم دی ) دبدخشان پرغرونو کی کیږی .

لسمه نوعه : سپین لیشک لرونکی وزی . سپین دانه ، دبدخشان په غرونو کی کیږی .

یوولسمه نوعه : سپین لیشک لرونکی وزی ، سپین دانه ، اوږده لیشک لرونکی د ٤-٥ سانتی متروپوری دبدخشان په غرونو کی کیږی .

دوولسمه نوعه : بی لیشکو وزی ، سپین ، سره دانه دبدخشان په غرونو کی کیږی .

دیارلسمه نوعه : سره بی لپشکو وزی ، سپین دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی بدخشان .

څورلسمه نوعه : سور بی لپشکو وزی . سره دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی د بدخشان شاو خوا کی .

نری غنم د افغانستان په لمرختیځو خواوو کی :

اوله لوغه: څلور نوعی (Erythrospermum)، (Graecum) ( Erythroleucon ) ، ( Ferrogenium ) چه په ټول افغانستان کی پیدا کیږی پر دغو بر سیره نوری لاندینی نوعی هم لیدل شوی دی .

دوهمه نوعه : سپین لپشکی لرونکی وزی ، سپین دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی د مشرقی چغه سرای .

دریمه نوغه : سور وزی ، سپین دانه د پیدا کیدو ځای ئی جلال آباد

څلورمه نوعه : سور وزی سپین دانه سپین ریښه د پیدا کیدو ځای ئی د مشرقی چغه سرای او نور ځایونه .

پنځه نوعه : سور وزی سره دانه سره ریښه د پیدا کیدو ځای ئی جلال آباد چغه سرای ، کنړ او لغمان .

دسختو آبی غنمو نوعی چه دافغانستان په مختلفو خواوو کی کیږی:

سخت غنم دنباتی او زراعتی ډډی په لحاظ ډیر اهمیت لری افغانستان د سختو غنمو طبیعی مرکز دی او ډیری نوعی ئی د افغانستان په جنوب شرقی خواوو کی پیدا کیږی د کابل په شاو خوا کی سخت غنم ډیر پیدا کیږی دغه غنم د ۱۶۰۰ څخه بیا تر ۲۳۰۰ لوړوالی پوری پیدا کیږی د آبی او منی غنمو تقسیم ته راجع د آبی سختو غنمو په تقسیم کی هغه د للمی غنمو ترتیب دی چه په لاندی ډول بیانیږی :

آبی سخت غنم په کابل او د کابل په شاو خوا کی :

اوله نوعه : بی ریښی غنم ، سپین بی لیشکو وزی ، سپینه دانه د پیدا کید و ځای ئی کابل .

دوهمه نوعه : سپین بی لپشکو وزی ، سره دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی کابل .

دریمه نوعه : بی ریښی غنم سور بی لیشکو وزی ، سپینه دانه د پیدا کیدو ځای ئی کابل .

څلورمه نوعه : ـ غټ وزی لرونکی غنم ، بی ریښی ، بی لپشکو سری دانی د پیدا کیدو ځای ئی کابل

پنځمه نوعه : بی ریښی ، وزی بی لیشکو سور رنگه سپینه دانه ، د پیدا کیدو ځای ئی کابل

شپږمه نوعه : بی ریښی وزی خو لیشک لرونکی دوزی رنگ سور ، سره دانه د پیدا کیدو ځای ئی کابل

اوومه نوعه : ـ ریښه لرونکی وزی بی لیشکو سپین رنگه ، سپینه دانه دپیدا کیدو ځای ئی قندهار ، هرات ، قطغن او بدخشان

اتمه نوعه : بی لپشکو سپین وزی ، سره دانه ، دپیدا کیدو ځای ئی د کابل شاو خوا اوقطغن

نهمه نوعه : سوروزی ، سپینه دانه ، دپیدا کیدو ځای ئی د کابل شاو خوا قطغن ، بامیان اوقند هار

لسمه نوعه : سوروزی ، سره دانه دپیدا کیدو ځای ئی د کابل شاو خوا

یوولسمه نوعه : سپین مشعروزی ، سپینه دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل ، بنو ، هرات

دوولسمه نوعه : سپین لپشك لرو نکی وزی ، سره دانه ، سره ریښه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

دیار لسمه نوعه : لپشك لرونکی وزی ، سره‌دانه ، توره رینبه دپیدا کیدوځای ئی کابل

څور لسمه نوعه : سوروزی، سپینه‌رینبه ، سپینه دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل اوهرات

پنځلسمه نوعه: سوروزی،سره‌دانه،توره رینبه‌دپیدا کیدوځای ئی کابل

شپاړسمه نوعه : سوروزی ، سره‌دانه ، توره رینبه د پیدا کیدو ځای ئی کابل اوفراه

اوه‌لسمه نوعه : سپین بی‌لپشکو وزی ، سپینه دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

اتلسمه نوعه : سپین بی‌لپشکو وزی ، سره دانه دپیدا کید و ځای ئی کابل

نولسمه نوعه: سوربی‌لپشکووزی،سپینه‌دانه‌دپیدا کیدوځای ئی کابل

شلمه نوعه : بی‌لپشکووزی،سور،سره‌دانه،دپیدا کیدوځای ئی کابل

یووپشتمه‌وعه ، مشعروزی‌سپین،سپینه‌دانه‌دپیدا کید وځای ئی کابل

دوه ویشتمه نوعه : سپین لپشك لرو نکی وزی ، سره دانه، سپینه رینبه د پیدا کید و ځای ئی کابل

در ویشتمه نوعه : لپشك لرونکی وزی سو ر ، سر ه ر ینبه سپینه‌دانه دپیدا کیدوځای ئی کابل اومخلوط پیدا کیږی

څلیرو شته نوعه : سورلپشك لرونکی مشعروزی ، سره رینبه، سره‌دانه دپیدا کیدوځای ئی کابل

پنځه‌ویشتمه نوعه : بی‌رینبی دپانوودمحدیت (کوزوالی ) په‌سبب پنډ شوی‌وی،سپین بی‌لپشکو وزی،سپینه دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

شپږ ویشتمه نوعه : بی‌رینبی وزی ،سپین بی‌لپشکو سره دانه د پیدا کید وځای ئی کابل

اوه‌ویشتمه نوعه : بی‌رینبی ، وزی‌سوربی‌لپشکو،سپینه‌دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

اته‌ویشتمه نوعه : بی ریشی وزی،سوربی‌لیشکو سره‌دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

نهه ویشتمه نوعه : سپین‌وزی،سره‌دانه ، دپیدا کیدو ځای‌ئی کابل

دیرشمه نوعه : سور لیشك لرو نکی وزی سپینه دانه ، دپیدا کید وځای‌ئی کابل

یودیرشمه نوعه : سورمشعروزی،سره‌دانه دپیدا کید ځای‌ئی کابل

دو دیرشمه نوعه : سپین‌بی لیشکو وزی، سره دانه دپیدا کید و ځای ئی کابل

دری دیرشمه نوعه : سوربی‌لپشکووزی ، سپینه‌دانه د پیدا کیدو ځای ئی کابل

څلوردیرشمه نوعه : سوربی‌لپشکو وزی ، سره‌دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

پنځمه دیرشمه نوعه : سپین لپشك‌لرونکی‌وزی ، سره‌دانه،دپیدا کیدو ځای‌ئی کابل

شپږ دیرشمه نوعه ، سوروزی،سره رینبه سپینه دانه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

اوه دیرشمه نوعه : سوروزی ، سره‌رینبه ، سره‌دانه د پیدا کیدو ځای ئی کابل

اته دیرشمه نوعه : سوروزی ، تور رینبه ، سره‌دانه دپیدا کیدو ځای‌ئی کابل

نهه دیرشمه نوعه : لنډه‌رینبه‌لرونکی وزی‌په‌پاسنی‌برخه کی‌سپین بی لپشکو وزی سپینه‌دانه دپیدا کید و ځای ئی کابل

څلویښتمه نوعه : کوچنی‌رینبه‌لرونکی‌وزی، سپین بی‌لپشکوسره دانه دپیدا کیدوځای‌ئی کابل

یو څلویښتمه‌نوعه : لنډه‌رینبه‌لرونکی وزی، سوربی‌لپشکو سپینه دانه دپیدا کید وځای‌ئی کابل

دوځلویښتمه‌نوعه: لنډه رینبه‌لرونکی وزی‌بی‌لپشکو سره‌بخونده دانه دپیدا کیدو ځای‌ئی کابل

دری څلویښتمه‌نوعه : سپین‌مشعر وزی ، سپینه‌دانه، دپید اکیدو ځای‌ئی کابل

څلور څلویښتمه‌نوعه : سپین مشعروزی ، سره‌دانه دپیدا کید و ځای‌ئی کابل

پنځه څلویښتمه نوعه : سپین مشعر وزی سره‌دانه ، تو ره ر ینبه دپیدا کید وځای‌ئی کابل

شپږ څلویښتمه‌نوعه: سوروزی،سپینه‌دانه ، سره رینبه‌دپیدا کیدو ځای‌ئی کابل

اوه څلویښتمه‌نوعه: سوروزی‌سپینه دانه ، توره‌رینبه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

اته څلویښتمه نوعه: سره رینبه‌سره‌دانه ، سوروزی دپیدا کید و ځای‌ئی کابل

نه څلویښتمه‌نوعه: سوروزی، سره‌دانه ، توره رینبه دپیدا کیدو ځای ئی کابل

دپورتنیو تشریحاتو څخه‌معلومیږی چه‌په‌دنیا کی د یوه مملکت دغنمو دانواعوشمیراواختلاف‌دافغانستان سره‌برابری‌نشی کولای دافغانستان سخت غنم په‌پیره سختی‌سره د پوتکو څخه بیلیږی نوځکه ورته سخت غنم‌وائی دغه غنم وروسته‌دځپر گرزولو څخه گونديمال کیږی هم ، نوځکه‌اوس‌معلومه‌شوه چه‌دغنمو مختلف پولونه‌دافغانستان‌په‌جنوب‌شرقی‌خواوو کی‌پیدا کیږی چه‌اوس‌دلته هم مونږ دجنوبی خواوو په‌انواعو باندې اکثفا کوو او ټول انواع ئی دکابل په‌دره کی‌لیدلای شو .

په‌هرات کې یوډول غنم د ( زعفرانی ) غنمو په نامه شته چه (Triticum-Turgicum-Lusitanicum ) ئی‌هم‌بولی‌داډول‌غنم

له هغه بل ډول سره چه سری دانی لری او Variety Dreishianum ) ئی بولی په مخلوط ډول سره لیدل کیږی ځینی نور نباتات چه د گرامینی Graminees کورنۍ څخه د ی اود غنمو سره جنسی قرابت او اړیکی لری هم لیدل کیږی چه هغه له اژیلو پونو څخه عبارت دی .

مثلا اژیلوپ تری انسیلس ،اژیلوپ استوانی (سیلاندریکا ) (اژیلوپ اکوا روزا) دغه نوعی ټولی دافغانستان په شمالی خواوو کی لیدلی کیږی .

یو بل ډول اژیلوپ کراسا په ځینی ځایو کی په شاذ صورت په ځینو ځایو کښی لیدل شوی خو اژیلو پونه ټول د هندو کش پرهغه غاړه پیدا کیږی او په ځوړو جنوبی برخو کی لیدل کیږی .

په افغانستان کی اوربشی (Barley) : د کښت دپرا خوالی، له رویه اوربشی دغنمو څخه وروسته راځی که څه هم اوربشی دحیوانانو مخصوصاً د آسانو دخوړلو د پاره په کار یږی اما انسانان ئی هم خو ری .

خودرویه وحشی اوربشی (Wild Barely) : د افغانستان په ټولو شمالی خواوو کی سته او پردوه ډو له لیدلی کیږی . یو دوه قطاره وربشی دی چه ژیړی پانی لری چه دخودرویه د نوعو څخه شمیرلی کیږی بل دوه قطاره اوربشی چه تور وزی لری .ددې دوو ډولونو څخه اول ډول زیاتی دی .

بل ډول ئی چه لیدل شویدی ، دپخوانی ډول سره بالکل شباهت لری . اماوزی ئی خړ او نصواری دی .

دغه ډول له دې کبله چه په بلخ کې کرلی کیږی، ددوه قطاره بلخیو اوربشو په نامه سره هم یادیږی .

پخپل سر زرغونه شوی او ر بشی : دا اوربشی ز یا تره منګنۍ وی ، مګر په پسرلی کی هم ددغو اوربشو انواعی لیدل کیږی . د خود رویه اوربشو طبیعی حدود لکه اژیلوپونه دهندوکش په غرونو کی شته دی بل ډول خود رویه اوربشی هم شته لکه ( Hordeum Bulbusum ) ( Hord Crinitum ) ( Hord Secalinum ) چه په افغانستان کی لیدلی شوی دی خود اوربشو ددې تنوعاتو څخه هرځوک اتکل کولای شی چه داوربشواصلی زانګو او ځای افغانستان اوددې هیواد ګاونډی ملکو نه دی ددې ډولونو څخه علاوه (Hordeum Cldueum هم د ویلو وړ دی او د کښتی اوربشو په نوعو کی دومری تکثر او تنوع نه لیدل کیږی نو ځکه داوربشو ډولونه د غنمو دډولونو سره چه بیخی ډیردی متضاددی څرنګه چه په افغانستان کی دنرمو غنمو او سختو غنمو نو عی تقریباً یو سلو لسو ته رسیږی له دې کبله داشمیر دټولی د نیا د غنمو د ډو لو نو تر احصائیه لوړدی ، نو د اوربشو نوعی په افغا نستان کښې دهغه دتعداد په نسبت چه په اروپا کی دی بیخی لږدی .

په افغانستان کی د کښتی اوربشو نوعی دادی .

لومړی نوعه : کلکی ر یښی لری دا او ربشی هغه دی چه په Bucharicum ډول او ندرتا په Ricotense ډول پوری تعلق لری دوه قطاره کښتی اوربشی په افغانستان کی لږدی اودځلور قطاره اوربشو سره ګډې لیدلی کیږی ، اودانی ئی زیږی وی دمخروطی اوربشو نوعی او کمرنګی ګډې اوربشی په هرات کی شته بل ډول چه Afghanicum ئی بولی تروزولاندی کوچنی کوچنۍ پانی لری ،دهمالیه داوربشو نوع چه شنی دانی لری اودپامیر اوربشی چه ژیړی دانی لری هم باید یادی شی، دبامیانو په شمالی خوا کی ډول ډول اوربشی لیدلی کیږی، دهزاره جاتو په یوه برخه کی (علاقه لعل) د (۲۰۵۰) متروپه لوړوالی (شپږ قطاره) بی پوټکو اوربشی لیدل شوی دی چه دمتحوله ډول له انواعو څخه شمیرلی کیږی .

جوار : Lea Mais د جوارو نوعی په افغانستان کی محدودی دی اودمهمو نوعو څخه ئی یوه هغه نوعه ده چه دانی ئی سختی دی مروجی نوع چه Vulgata ئی بولی اود Rubra نوع لږ لیدله کیږی وړو کی دانه جوار د افغانستان په لوړو خواؤ کی لکه هزارجات او نورو ځایو کی لیدل کیږی چه دهغو د (زرو) دانو وزن له (٦٠تر ۸۰) ګرام پوری رسیږی په افغانستان کی د جوارو دپخیدو دپاره له ۹٦ بیاتر ۱۰۰ ورځو پوری په کار دی دجلال آباد جوار نسبتاً په ځنډ پخیږی اودپخیدو د پاره ئی (۱۲۰) ورځی ضرورت لری جوار د یخنۍ څخه دساتنی به لحاظ دپسرلی په اول سر دثور په میاشت کی لری .

جودر : Seal Cerecal : په افغانستان کی یوډول جودر چه (چاودر) ئی بولی اوډېر نازك اوماتیدونکی دی پیدا کیږی چه ډېر ځله دغنمو په منځ کی شنه کیږی دپوخوالی یارسیدو په وخت ګی ددې ډول جودروو زی دبندځخه بیلیږی اودډنډرو په شکل پرمځکه توئیږی اودیولاف غوندی په خپله شنه کیږی خلك ئی هم دخودرویه اومضرنبات په حیث پیژنی په ټو له غربی ایشیا کی جودر دغنمو په منځ کی په خپله شنه کیږی لیکن د منځنۍ ایشیا جودرچه داروپائی جودرو عمو می خواص لری ډېر الوتونکی اوماتیدونکی وزی لری، دکښتو اویاغنموسره ګډوی اویوځای دغنموسره خوړل کیږی ځکه چه داخصوصیت په پښتنی جودرو کی پوره شنه دی نو ځکه دپښتنی جودرو په نامه سره یادیږی درپیلو په وخت کی ددی جودرو لویه برخه ریبل کیږی او پر کښت باندی توئیږی چه بزګر دمخه د غنمو د کو ټلو حتی الوسع هغه دمیدانه ټولوی دانوعه جودر نسبت وغرنی جودروته و (Secal Cereal Afghan) ته نژدې دی .

پسرلینی جودر : لویه برخه دکلکو ، نرموداوموتوسطو جودرو په‌افغانستان کی دمنی دجود روپه شکل دغنموسره یو ځای کرل کیږی اومنیءجودرغوندی ښکاری، دبدخشان‌په‌لوړو غرونو په۲۶۰۰ متره لوړوالی کی چه‌په‌هغه‌ځای کی‌پسرلنیږغلی کرلی کیږی دغنمو په کښتو کی دغه‌دپسرلی جودر لیدل کیږی او لکه ددی لوړو خواووغنم زبانچه‌نه‌لری دبدخشان‌په‌ډبرینو اوریګی ځایو کی چه‌دغنمود کښت دپاره مساعدنه‌دی دپسرلی‌جودر پکښی کرل کیږی .

ځکه‌چه‌جودر دمځکی د.نواصوشخه په‌لږ رطوبت اولندبل متاثر کیږی‌نوځکه هرځومری‌چه‌دشمال‌وخواته‌ولاړشو‌ډیرلیدل کیږی اوهم‌ئی دوزی کلکوالی لاورپسی ډیریږی او هر څو مری چه لوړوالی زیاتیږی ددې ډول‌غلی دشنه‌کیدو دائره‌پسی ار تیږی اود ۲۳۰۰ بیاتر ۲۵۰۰متره لوړوالی پوری دمنی جودر د غنمو ځای نیسی اودیو بیل نبات په‌ډول معلو میږی .

زدن په افغانستان کی : زدن په ټول افغا نستان کی کرل کیږی د بوتانیکی نقطه نظر څخه د افغا نستان زدن کوچنی اورنګ داره‌دی اود Effusum په‌نوعی پوری تعلق لری‌اوبوه لږه‌برخه دهغه د Contractum په‌نوعې پورې اړه لری ، هغه نوعی‌چه‌خپر بدل (انتشار)ئې‌ډیردی‌د Flavum او Subflavum او Subcinereumاو Griseumاو Subgrieseum او Aureum او Luteum او Album په نومو یادیږی ژیړ ز دن عمو میت لری نصواری او خړ زدن ګډ سره لیدل کیږی کلك زدن په افغانستان کی‌نسته .سپین اوسره زدن‌هم لږلیدل کیږی د پښتنی زدنو دانی لوئی نه دی په نورستان کی‌یو ډول ژیړ زدن چه (واما Vama) ئـی بو لی لږ لوی ایسی د معمو لی زدنو په منځ کی ایطالوی زدن هم ګډ لیدل کیږی په‌ځینو غرنیو بر خو کی‌زدن هم‌لکه دغنمو ډوډۍ داسی خوړل کیږی د ایتا لوی زدنو نوع استوانئی کوچنی وزی چه‌لس سانتی اوزد والی‌لری شته ،بعضی‌اوقات دنیم غوړیدلی یا منشعبی نوعی د Maximum او Moharicum ا نو اعو په منځ کی مختلط لیدل کیږی د Moharicum نوعی داوزدولپسکو سره‌لکه د ( پریککس) نوع‌دخفیفو ژیړرنګو دانوسره اوژړولپسکو سره د میتیز ګاری دنوع‌سره ژیړی روښانه دانی اوسری نصواری لیسکی لری‌او سری دانی لری او نصواری سری لیسکی لری لیدل کیږی. دزدنو د Panicum Crusgalli نوعی دوریجو په کښتو کې په عادی صورت سره لیدل کیږی .

باجره : په افغانستان کی په ډیره لږه اندازه کرله کیږی خوخوزې ئې نه‌پیدا کیږی .

وریجې په افغانستان کې: پاکستان‌اوهندچه‌دافغانستان ګاونډی دی دوریجو د کښت‌مهم مرکزونه ګڼل شوی او د کښتی ور یجو او دخود رویه وریجو په لحاظ په ټوله دنیا کی مشهور دی ، دافغانستان‌دوریجو نوعی تر ترکستان ډیری دی د وریجو نوعی په افغانستان کی دپنډو او نریو څخه عبارت‌دی . پنډی وریجی نسبتاً کراړی اولنډی‌دانی لری چه‌ددانی اوزدوالی‌ئی له پنځو تر پنځه‌نیمو میلیمترو پوری رسیږی پنډی وریجی ډ یری پوډری او نشائسته‌ئی یامغز داری وی . نری‌ وریجی اوزدی دانی‌او مخملی رنګ‌لری اوکلکی‌وی،ددانو اوزدوالی ئی‌اوه میلیمترو ته‌رسیږی داوزدوالی‌نسبت‌ئی وسورته ۵،۳-۳=۱ دی. پنډی وریجی د افغانستان په ډیروځایو کی کیږی او دترکستا نیوتر پنډووریجوسره‌لږفرق لری‌نری‌ وریجی‌په‌لغمان ،خان‌آباداوځه نیزدې په‌قندهار اوجلال‌آباد کښې‌هم کرلې کیږی. په افغانستان کښې دلاندنیو وریجو اقسام لیدل شوی‌دی .

| | |
|---|---|
| Varicty . Vulgare | -۱ |
| Var . Dichora | -۲ |
| Var . Erythrospermum | -۳ |
| Var . Ianthoceros | -٤ |
| Var . Melanothrixo | -٥ |
| Var . Amaura | -٦ |
| Var . Rubra | -۷ |
| Var . Italica | -۸ |
| Var . Javanica | -۹ |
| Var . Pynocarpa | -۱۰ |
| Var . Caucasiea | -۱۱ |

پورتنی اقسام دپنډو وریجو په‌نامه یادیږی ، د نریووریجو په نامه مخصوصی‌وریجی دی چه‌کلکی ، شفافی او اوزدې دانی لری (اوزدوالی ئې۷ ملی‌متره ) چه داوزدوالی اوپسور نسبت یې ۳/۵—۳ : ۱دی .

دااقسام‌ژیړ ګلومونه (Glume)لری (هغو کوچنیو پانډوته چه پردانو باندی را ګرزیدلی دی ګلوم وایی ) پښتنی نری‌ وریجی دادی :

۱- د(۱۵) څخه‌تر (٤۰) میلیمترو پوری کو چنی‌ اوزدی وزی چه دوزی دسروخواته اوزدی کیږی لیشکی ئی کاهی‌رنګ لری ، دې‌ډول‌ته‌لیشکې‌لرونکی ډول وایی .

۲- وزی ئی‌لیشکې نه‌لری‌اودې‌ډول‌ته‌بی‌لیکشووایی .

۳- وزی‌ئی‌لنډی‌لیشکی‌لری‌چه یوازی د وزی په پورتنی‌ برخه‌کښې نسبتاً اوزدې وی، هغه‌متوسط لیشك لرو نکی ډول‌چه کاهی رنګ‌لری اوهمدغسی بې‌لیشکونری‌ وریجی په‌خان آباد کښې شته چه‌دهغه‌ځایه څخه‌یې‌بلخ اومزارته وړی .

پښتنی وریجی زیږې لېشکی او ګلو مونه لری ، شایی ډېر اقسام يې دهنده ځخه افغانستان ته راوړل شوی دی .

ګڼی : ګڼی چه د (ګرامینی) دکورنۍ ځخه دی ، دلته به لنډه ځېړنه پرو کړو :

په جلال آباد کښی کرل کیږی که څه هم دافغانستان په ځنو نورو ځایو کښی لکه قطغن او ګرشك هم دودې او کرلو شر طونه یی لاس ته راتلای شی دجلال آباد په شاوخوا کښی لکه دلغمان د کنړ دره اوفتح آباد کښی هم کرل کیږی ګڼی دهنده ځخه افغانستان ته راوړل شوی دی اوبومی وګړی د ګڼی ځخه یوډول تیره اوژېړ بخن قند جوړوی چه ګوړه یی بولی ،دنوعیت تفریق یی د آنتوسیا نین Anthocyanin دمادې دموجودیت له رویه کیږی چه لږو ډېرد ګڼی په ساقه کښی وی .

سابه په افغانستان کښی : دافغانستان په ډیرو ځایو کښی سابه کرل کیږی پرته دمرکزی جګوغرو ځخه په نورو ځایو کښی دسابو ډېرواقسامو دکرلو لازمه شرطونه اوهغه حرارت چه ورته لازم دی شته، مهم سابه یی دادی : پټاټی، بانجن ، کډو پیاز، تېیر، کرم، ګازری، ترایی ، بادرنګ ، باغلی او داسی نورچه وروسته به لنډه ځېړنه پرو کړو :

۱- پټاټي (کچالو) : پټاټي دوه ډوله دی ، ګرمه پټاټي اوسرده پټاټي، ګرمه پټاټي دمخه پخیږی ،رنګ یی ژېړ اومغزیې پوست وی، قیمت یی هم دسردې په نسبت لږوی، سرده پټاټي نسبتاً سپین رنګ لری اومغزیی نسبتاً کلك وی خوندیی ښه او قیمت یی لوړوی پټاټي په معتدلو برخواو په هغومځکو کښی چه شګلنی اورس ولری ښه وده کوی، په تودوځایو کښی لکه قندهار سخت او کلك اودپایښت اودوام موده یی لږه ده .

۲- بانجن : بانجن په افغانستان کښی خورازیات کرل کیږی اوهم په زیاته اندازه مصرف کیږی دبانجن دانواعو مهمه برخه په افغانستان کښی لویه چنیا اوسوررنګه وی کله کله سپین بانجن هم لیدل کیږی مشترك او ګډ رنګونه هم لیدل کیږی دشکل له پلوه زیات اختلاف لری په اوږده شکل داروپائی انواعو په شان (اوږده او چنیا) او دهبلاژ Hablange په ډول چه اوږد والی يې تر (۳۰) سانتی متره اوتر (۳۰) سانتی مترو زیاتوته هم رسیږی اوقطر یی چه (۱۰) سانتی متروته رسیږی هم شته .

دناك په شکل ګرد او استوانه ای هم لیدل شوی دی د نوعیت تفریق دنبات دودی دمودې له رویه هم کهدای شی دا نواعو داختلاف له رویه څرګندیږی چه بانجن دخپل طبیعی محیط په دننه کښی وی اوراتګ یی په افغانستان کښی شایی په پخوانیو وختو کښی له هنده صورت میندلی وی .

۳- ګازری: کرل شوی ګازری دافغانستان په ډیرو ځایو کښی ژېړ رنګه مغزلری لکه چه نوم یی هم دمغز دژېړ والی له پلوه اینودل شوی دی، ګازری په افغانستان کښی پردووډولو دی: یوډول یی د Anthocyan ځخه وی چه رنګینه سرې رینې لری او بل ډول یی بیله Anthochyan ژېړې رینی لری،سری ګازری تیز رنګ لری اودتورو ګازرو په نامه یادیږی چه په هرات اومشرقی کښی لیدلی کیږی مګرژېړی ګازری په قطغن بدخشان اومیمنه کښی زیاتی دی په کابل اوقندهار کښی سری توری ګازری لیدلی کیږی، په قطغن او بدخشان کښی دسرو او ژېړو تر منځ ګډ اقسام هم شته معلومیږی چه دجنس دګډېدو له پلوه پیدا شوی دی . دهندوکش په شمال کښی زېړی ګازری ډیری دی اوپه جنوب کښی یی سرې اوتوری ګازری لیدلی کیږی سرې عمومی ګازری دسرونارنجی رېښو سره چه د کاروتین لرو نکو سلولودپاره مخصوص دی په افغانستان کښی نه شته په فراه کښی سپینی ګازری اوهغسی ګازری چه خفیف رنګ لری لیدلی کیږی . دافغانی،ترکستانی اوایرانی ګازرو پانې داروپائی ګازرو دپانو په نسبت لږ پر بکړه لری ، دسرو ګازرو پانې په افغانستان کښی پوخی لری، ایشیائی زښې ګازری چه د Moissicri اوShavrovi نوعی لری باید جلا ترنظر لاندی ونیول شی، اومړی نوعه سور رنګ اودوهمه نوعه ژېړ رنګ لری سوره ډول یی زېږی وې او لږ خوږوالی لری اودګلا نورنګ یی هم په افغانستان سوروی ، کله کله انواع یی په تیره تکو سره درنګ داختلافاتو له رویه تاکلای شو ، همدغسی د شکل ،بیخ اوپانو له رویه یی نوعیت معلو مولای شو، دپښتنی ګازرو دقند مقدار لږدی ، په دننی اوشنو برخو کښی یی د ۸ ،٤ څخه تر ۱ /۵ فیصده اوپه دباندنیو برخو کښی یی د ۲/۷ څخه تر ۲/۹ فیصده قندشته چه دهغوځخه د ۲/۷ څخه تر ۲/۹ فیصده پوری مونو سکرید Monosacharides اود ۹ / ۱ څخه تر ٤ / ۲ فیصده پوری سکر روز Saccharoses وی ، دبخا را ژیړی ګازری (٦) فیصده قند لری حال دا چه اروپائی ګازری تر متشابهو شرائطو لاندی ۸ - ۸/۳ فیصده شیرینی اوخوږ والی لری . د ګازر ووحشی شکل دادی چه بیخونه یی نری،نسجی اوزېږه وی، په افغانستان کښی اکثراً سور رنګ لری چه تریوې اندازې دتذکیر اوتخمدان آلات نیسی. دپښتنی خود رویو ګازرو پانې کوچنۍ لکې Anthocyan لری ، د افغانستان جنوبی خواوی او دهند شمال مغربی خواوی دجنسو دتنوع له رویه شایی د ګازرو اصلی مرکزوی ځکه د سرو اوتورو ابتدائی شکلونه هلته ډېر دی، وحشی ګازری Anthopochorous د مخصوص نوعی په ډول دنړۍ په مهمو برخو کښی شته .

تېپر : په افغانستان کښې د (Brassica Napus) نوعه نه لیدله کېږي، مګر د کرلوله پلوه خورا مهمه ده، او ا ېشیا ئی نوعه د افغانستانه څخه خپره شوې ده. د پوست رنګ ېی مختلف وی ، روښانه ئی سره او یا تیز سره زیات لیدل کیږی چه سپین مغزلری ژېړ مغز تېپر په افغا نستا ن کښې لږ د ی ، د ښتنی تېپر پانې لنډی، ګڼی، پوخی لرونکی اویا ښوی وی ، په تودو ځایو کښې خورا لوئیږی، لکه چه د مشرقی تېپر خورا زیات مشهور دی، یوډول تېپر چه بشپړی پانې لری هم لیدل شوی دی .

د ښتنی تېپر مغز کلك اوتېز خوند لری، بیخی خوازه نه دی، دانې ېی تیز نسو اری یاخفیف نسوا ری ر نګ لری او نسبتاً لوی وی، ینښتنی تېپر زېښه، کوچنی اوډېرځل غیرمنظم شکل اوافقې لیکی اوردې لری، په هوارو او اوزدو شکلو هم لیدل شوی دی، په افغا نستان کښې د تېپر لاندینی اقسام لیدل شوی دی :

الف : هغه تېپر چه پرې شوی پانې لری .

۱ - ریښې ېی سپینې او آسیایی Asiatica ډول دی .
په مشرقی، هرات، خیوا اومشهد کښې لیدل شوی دی .

۲ - ر یښې ېی سپینې او سر ېی شین وی، په قطغن، هرات او بدخشان کښې شته او په ګډ ډول په ترکستان او ایران کښې لیدل کیږی .

۳ - بیخ ېی سپین اوسر ېی سوروی، په ګډ ډول په مشرقی قطغن، کابل، بدخشان قندهار اوهم په ایران کښې شته .

٤ - ریښې ېی سرې وی چه ترټولو زیات خپور شوی دی، په ټول افغانستان، ترکستان اوهند کښې لیدل کیږی .

٥ - ار غو انی ریښې لر ی په ترکستان او په ګاونډو ځایو کښې شته .

ب : چه نا پری شوی ( بشپړې پانې) لری

۱ - ریښې ېی سپینې اوسر ېی شین وی چه د کابل نوعه ده .

۲ - بیخ ېی سپین چه د Seibasiatica نوعه ده

۳ - بیخ ېی سور چه د Vavilovi نوعه ده .

وروستنی یادشوی درې ګون انواع د پورتنیو انوا عو په په نسبت لږ خپاره شوی دی او په ګډ صورت په تېره بیا په مشرقی او کابل کښې لیدل کیږی .

ترپ ( ملۍ ) : په تر پ کښې دوه ک ل ن ډ و ل ېی ( Raphanus sativushybernus او Raphanussat.niger) په افغانستان کښې ډېر دی . ترپ په تېره بیا د افغا نستان په جنوب کښې لوی نه وی پلی ېی (سیلنك) په اوزدو خطوسره خلاصیږی اوغوړیږی، سره، ارغوانی سره وزمه تور او سپین ترپ لیدل کیږی . هراتی ترب سپین وی اوشین سر لری مغز ېی خوږ او کلك وی . سپین ترپ زیات دی .

پیازاوهوزه : په ټول افغانستان په تېره بیادکابل په شاوخوا کښې لیدل کیږی په پټیو کښې د (All . Prrum) او (Alliumsativum) او Allicium Cepa ډو لو نه او انواع لیدل کیږی . پیاز ډېر ډولونه لری اودرنګ له رویه د تفریق وړدی، داسی پیاز چه ژېړ مغز لری هم لیدل شوی دی، خود ر ویه پیاز د بدخشان او هرځای په غرو کښې شته . همدغسی غرنی هوزه اوپیاز هم په اندراب (دقطغن برخه) کښې لیدل شوی دی . افغانستان باید دهوزی اوپیاز د مختلفو انواعو اصلی وطن وګڼو اودرنګ له رویه سره، سپین او ژېړ لیدل شوی دی، ژېړ رنګ ېی په جلال آباد، غزنی، فیض آباد اومزارشریف کښې شته.

جغندر : په عمومی ډول سور رنګ لری، ښایی دایرا نه څخه افغانستان ته راغلی وی جغندر ایشوی او خوری ېی، قرمزی ر نګ ېی هم لیدل شوی دی . خوږ والی ئی متوسطدی . د ښتنی جغندر مغز سوراویاسپین رنګه خطونه لری، اویاداچه قرمزی اوسپین خطونه لری یا بیخی سپین وی ،شکل ئې ګرد یامخروطی وی قند ی سپین جغند ر په بغلان کښې دقندد ایستلو دپاره کری .

کډو : ډېراقسام لری ، ترکستانی ډول ئې چه ژېړ اوشین وزمه پنډ پوست اوژورخطونه لری خو را زیات لو ئیږی ، ګرد او اوزده وی په شنه ، نارنجی ، ژېړ اوسپین رنګ هم لیدل کیږی، په کډوانو کښې مهمه نوعه لوی کډوان دی . بل ډول ئې کوچنی وی اومشکی (خوشبویه) کډو هم شته ( C . moschata ،د) دنوعی کډو لږ خپورشوی اوباب شوی دی ، دمملکت په جنوب کښې د ګردیو لویو کډوانو په ډول چه نصواری اوژېړ رنګ اونارنجی سورمغز لری لیدل کیږی. کډو صراحی دافغانستان په ډیرو ځایو کښې شته اوداډول کډوان دسر کی دساتلو دپاره استعمالوی اود تخمه څخه ئې دمسکنی مادې په ډول دتبی پر ضد کارځنی اخلی .

مرغونی (حنظل) : په خودرویه ډول په ډیرو ځایو کښې لکه دبکوا په دښت اونورو ځایو کښې لیدل کیږی .

بادرنګ : ډېراقسام نه لری، سواره ډول ئې چه وروسته رسیږی لوی ،اوزده اوخوشبویه وی، دسها کو بادرنګ په کابل کښې خورا مشهوردی، بادرنګ کله دسلاتې په ډول خوری اوځنی ئې پخوی هم.

تو رائی : تو را ئی د سابو په ډول لکه بانجن جلاویا دبانجن سره یوځای او ګډ پخیږی اوخوړل کیږی ، شکلونه ئې استوانه ای اویادبوطل په ډول وی ،

کربره : دجلال آباد ،قندهار اوکابل په مار کپتو کښې خرڅیږی، لاتینی نوم ئې (Memordica Charantia) دی اوډیر لږ خوړل کیږی .

مرچ : دتورومرچو کرهنه باب نه ده ،دسرو مرچو کرهنه په شمالی برخو اود کابل په شاوخوا کښې باب شوې اوزیاته شوې ده ' هنه مرچ چه سور پوست اوژیړ پوست لری شته .

رومی بانجن : درومی بانجن کرهنه مخ پرزیاتېدو او پراخېدوده، سره اوژیړ ، لوی کوچنی ډولونه ئې لیدل کیږی . د رومی بانجن کرهنه وښارو ته نزدې زیاته ده ، رومی بانجن د سلاتې او دسابو په ډول خوړل کیږی .

بامیه : بامیه هم باب شوې ده اوروڅ په روڅ ئې کر هنه زیاتیږی او پراخیږی .

پالك : پالك په زیاته اندازه کرل کیږی او خوړل کیږی اود سابه په نامه ئې یادوی ، پالك دوه ډوله دی، یوډول ئې کو چنی پانی لری اوبل ډول ئې سره وری پانی لری ، خود رویه پالك دهرات دبا دغیسات په برخو کښې شته .

کاهو : کاهو هم دسلاتې په ډول خورا زیات خوړل کیږی ، کاهو پردوه ډوله دی یو کابلی کاهو چه نری شنی پانی لری اوبل خارجی کاهو چه پانی ئې دکرم په شان اوپه اوبو ډکی وی ، ددی ډول کاهو پانی مجدبی اوسره پېچلی وی ، کله کله دسا یه په ډول خوړل کیږی ، ځنی وګړې پالك اوکاهو په یوه پټی کښې کری، پالك نری پانی لری اوپر مختلفو اقسامو ویشل کیږی لکه د (Vonchii) او (Erfustenses) اقسام . هغه پالك چه لوبې یا ګردی پانی لری هم دوه ډوله وی ، یوئی کوچی ئې (Kochii) اوبل ئې هیمالیس ( Hemalis ) دی چه اغزنی اوهواری مېوې لری. پانی ئې سره وری اوځو که وری دی،په قطغن او بدخشان کښې په عمومی ډول هغه پالك چه پانی ئې ګر دی وی کرل کیږی د ( Acutifolia ) نوعه ئې د (Manchii ) او (Tetrandra) اقسام لری چه مېوی ئې اغزی لری اودافغانستان په جنوب کښې د ( Acutifolia ) نوعه کرله کیږی چه د ( Monchii )او(Tetrandra) اقسام پکښې شامل دی .

حبوبات اووانبه په افغانستان کښې: دلیګومینوز نباتات (باقلات) او مشنګ(Lentils) اووینا(Vignacatjang) او د چنې اقسام (Peas) اوخلر ( کلول) شپیشتی او شو تل په هرات کښې د کرهنی $\frac{1}{3}$ برخه نیسی . دهرات دشمال وخواته نوې قاعې ولورته په ډیرو مخکو کښې چنې ، لوبیا ، للمی او آبی کلول کری . دافغانستان دلیګو مینوز دسابو دخصوصیانو څخه یو خصوصیت لکه چه دهند شاوخواته نزدې لیدل کیږی کوچنیوالی دی یعنی دانی ، پانی ، بوټی او ګلان ئې نسبتاً واړه ښکاری . دلیګو مینوز تنوع اواختلاف په افغانستان کښې څرګندوی چه دامملکت د لیګو مینوز دطبیعی منابعو څخه یوه منبعه ګڼله کیږی دچنو ، مشنګو اوکلول دانې په ټپره بیادلو بیا انواع لکه (V . Fada) لکه چه موویل داروپائی دانو په نسبت کوچنی دی ، بلکه ددې کو چنیوالی درجه د ۲ څخه تر ۳ وارو پوری داروپائی مشنګو اوچنو ددانو دحجم په نسبت مقایسه کولای شو.

دچنو انواع : دلیګو مینوزو څخه هغه لیګو مینوزونه چه زیات کرل شوی اوپه افغانستان کښې د ۳۱۵۰ مترو په جګوالی کرل کیږی.دخوړلو چنې چه شنی دانی لری دریډوله پوست لری چه یو یې مرمری نصواری اوبل ئې سره داغونه لری زیاتی دی او دپښتنی چنو اودهند دنزدې شاوخواخصوصیات رابنی په دې اقسامو کښې نسبتاً یوازنی نوع ګڼل کیږی اودشکلو اختلاف هم شته سره له دې دافغانستان چنې نظر وهغو اختلافاتو ته چه دامریکائی اواروپائی چنوسره ئې لری جلا نوعه ویلای شو اودایشائی چنو ترعنوان لاندی رانځی چه داخصوصیات لری :

( ایرن یا تیره سور وزمه رنګ ، ستاندرده قیماقی رنګه Cremyhue of the standard او د قیماقی وزمه ژیړ رنګ موجودیت په ګلبر ګو کښې او همدغسی جلا خصوصیات په دانو او ګلبر ګ کښې چه په نورو اقسامو کښې نه لیدل کیږی هم شته، بله خبره داچه دایشیا په جنوب غرب کښې تمرکز لری)

دلوبیا اقسام ډیږدی چه یو دهغو څخه باغلی دی ، په مشرقی کښې خورا ډیر کرل کیږی اودانی ډیر په ډې منطقه کښې کوچنی دی، دلوبیا لوی او پلن اقسام چه دروم دبحیرې په حوزه کښې شته په افغانستان کښې نه دی لیدل شوی ، سره له ددې دانو انواع همچه دمشرقی ، کابلی اوبدخشانی دانواعو په نسبت لوی دی په هرات کښې لیدل شوی دی د کابل باغلی په سلو دانو کښې یوازی ۵، ۲۱ ګرامه وزن رابنیی. په افغانستان کښې په ټپره بیا په مشرقی برخو کښې دباغلی طبیعی اقسام خورا زیات دی چه تراتو ډولو پورې رسیږی، په عمومی ډول ډې دانی وړې اوتور رنګ لری، لنډه داچه دافغانستان مشرقی خوا اودهند دشمال غرب خوا د باغلی طبیعی منابع ګڼلای شو .

په افغانستان کښې ډیر کرل کیږی ، په هغو مخکو کښې چه اوبه لری دلیګو مینوز کرهنه زیاته او په ډیرو مخکو کښې صو رت مومی اوپه تناوب کښې هم مهم رول لوبوی ، په هرات اودهرات په شاوخوا کښې ددی لیګو مینوزو څخه زیات لیدل کیږی دلوبیا اقسام لکه باغلی (Viciafaba) او (Phasolusaurus)

کلول : د خل نوع په افغانستان کښې د (Lathyrus - Sativns-Variety - Coeruiea) څخه عبارت دی چې د ( Asureakorsh )مترادف دی او آبی ګلان او تیره رنګی دانی لری دسلودانو وزن ئی د ٤ څخه تر ۱۰ ګرامو پوری دی . فازیولوس او ریوس Phaseolusaureus په افغانستان کښې ډیر کرل کیږی او دانواعو اختلاف هم د ترکستان په نسبت زیات دی اودهند (فازیولوس اوریوس) په شان وروسته او په څنډ پخیږی ، په جلال آباد ،قندهار او کابل کښې نسبتاً زیات کرل کیږی . دخفیف شین او خړ شین په مختلفو رنګو او دافغانستان په جنوب کښې په نسبتا تیره رنګوسره تردیدشوی دی .

فلازیولوس مانګو : Phaseolus ددی نبات دانی د(فازیولوس اوریوس) په نسبت لوی دی په داسی حال کښې چه دوروستنی یاد شوی نبات ګلان ایرن تیره ژېړ وی دفازیولوس مانګو ګلان طلایې ژېړوی ، فازیولوس مانګو دافغانستان په جنوب کښې خورا ډیر کرل کیږی .

وینا کټژنګ : Vigna Catjang دانبات د لیګو مینوز له ډلی څخه دی چه دافغانستان په کښتو برخو کښی کرل کیږی او لاندینی انواع لری .

۱- هغه نوعه چه سپینی پلنی دانی لری او پرمخ ئې ډیری چوڼ خوږ ونکی لځایو نه لید ل کیږی . رنګ ئې ایرن ژېړ دی ، دانې ئې خفیف رنګه داغونه لری، دسکېرشاوخوا یعنی داغونه یې سور رنګه نسواری او یا تور وی . دا برخه چه داغونه لری په یوې سرې کړی سره محدوده شوې ده ، په هرات کښې لوبې دانی لیدلی شوی دی .

۲- هغه نوعه چه کوچنی دانی لری ، نسواری رنګ ، خفیف رنګه داغونه اوتیز رنګه کړی لری برسېره له دې د (فازیولوس اکونیتیفولیوس) او(فازیولس ولګاریس) دوې نوعی او یوبل نبات چه د(لیګومینوز) ګڼوانوس اندیکوس دی هم په افغانستان کښې شته .

مشنګ : په افغانستان کښې خورا ډېر کرل کیږی، معمولی مشنګ اوفرانسوی مشنګ د خورا معروفو انواعو څخه دی. او وروستنی یاد شوی مشنګ دافغانستان په غرو کښې خورازیاته لیدل کیږی لکه چه په هزاره جات ، بدخشان اوغزنی کښی د ۲۶۰۰ او ۳۰۰۰ مترو تر جګوالی پوری په آبی ډول کرل کیږی،مربوط اقسام ئې د Globosa Intermeduim Vulgais څخه عبارت دی ، معمولی مشنګ په افغانستان کښې دداني په کوچنیوالی پوری اړه لری اود ایشیا په جنوب غرب کښې لیدل کیږی ، حال داچه زردانی هسپانوی مشنګ (٦۰) ګرامه وزن لری ،دافغانستان زردانی مشنګ(۱۲) ګرامه وزن لری .دنړی دهغومشنګو له(۲۷)اقسامو څخه چه کوچنی دانی لری (۹)ډوله ئې په افغا نستان کښې میندل شوی دی ، د afghanica - Melaiosperma - انواع ډیری وډې دانی لری . ددانو رنګ تور او د ګلانو آبی اودنبات قدېت دی .

تیلی نباتات په افغانستان کښې : په افغانستان کښی تیلی نباتات ډیراختلاف اوانوا ع لری دافغانستان دتیلی نباتاتو مهم نبا تات دشرشم ، زغر ، کنځلی ( کنجد) کا فر ګل ، خردل بیدانجیر ، هنددانه ، بنګ دانې، خشخاش اوشنی اوپلوسې څخه عبارت دی .

۱- شرشم : ترټولو تیلی نباتاتو زیات کرل کیږی او کرهنه ئې په تېره بیا دافغانستان په مشرقی برخو کښی زیاته ده اوتر (۳۰۰۰)مترو جګوالی پوری لیدل کیږی، دانبات په افغانستان کښې درې ډوله دی ، دپامیر ګروپ ، پښتنی ګروپ او کابل ګروپ چه دحاصل دپخېدو دوخت اود ګلانو د شکل له رویه سره توپیر لری اوهر یو مختلفی ځانګی لری ، دفنی کتنو له رویه څرګندیږی چه دشرشم اصلی وطن اوځای د افغانستان شرقی برخه اودهند شمال غربی خواده ،دشرشم تېل دسونګ د پاره استعمالوی اوهم دکپ په پخولو او داسی نورو شیانو کښې کار څنی اخلی، کنجاړه ئې وحیواناتوته ور کوی څودحیواناتو شدې زیاتی شی .

۲- خردل(اوری) :دانبات لږ باب دی اود Brassica Juneea په انواعو اړه لری ښایی دهغو پښتنی شاو خوا ځایو څخه چه دهنده سره ګاونډی اومجاوردی افغانستان ته راغلی وی.

۳- ایرو کاساتیوا : Eruca sativa په عمومی ډول دهرات په شاوخوا کښې وی او تنوع ئی زیاته ده او دمیوی، حجم، پانو ګلانو اوددانو درنګ اوشکلو څخه تفریق او پیژندل کیږی شك نشته چه ایرو کاساتیوا لکه چه اوس لیدل کیږی د خودرویه ډوله څخه مشتق شوی دی ددې نبات دترکستانی او پښتنی شکلو دبو تانیکی مقابلې اومقایسې څخه څرګند یږی چه د ایشیا په جنوب مغرب کښی دودی امکان لری او دهمه ځایه څخه دانبات را و تلی دی .

٤- تراتیزك : دسلاټې په ډول په افغا نستان کښی خوږل کیږی ، دتخمه څخه ئې کله کله خورا لږ تېل را ایستل کیږی

۵- زغر : دانبات دنسجی نبات په ډول په افغانستان کښې نه دی باب او یوازی دتېلو دپاره کرل کیږی اولږ ترلږه شپږ ډوله چه په افغانستان کښی شته. دافغانستان زغر په څنډ رسیږی او پخیږی اومتوسط کپسولونه اومتوسط ګلان لری او نسبتاواړه وی

دوهم گروپ چه لږاهمیت لری ، وړې لنډې ځا نګی لری چه ژرپخیږی اوپه تیره بیا په لوړو ځایو کښې وی .هغه ډولونه ئې چه به ځنډ پخیږی اولنډ دی په دویم گروپ پوری اړه لری، په قندهار کښې هغه شکل ئې چه لنډ او ژرپخیږی شته اومخصوصې ساقې اوډنډې لری ،کپسولونه ئې واړه دی اودانتوسین په ماده رنګینه دی او دحبشې زغر راپه زړه کوی ، په فیض آباد کښې مخصوص شکل ئې په سپینو ګلانو سره لیدل شوی دی چه دچین په مغربی برخواړه لری ، په هرات کښې مشترك ډول ئی د تخمی شرشم اودانترمدیم Intermedeum دګروپ ترمنځ لیدل شوی دی اوداډول په نوروډولو کښې مشترك اومتوسط خاصیتونه لری . برسپره له دې شکلو څخه د نبات دتذکیر د آلاتو او د طاس برګو درنګ له رویه هم څرګندیږی چه دایشیا جنوب مغربی برخه او ددې برخی دشا وخوا ګاونډی ځایونه باید د زغر اصلی وطن وګڼو ځکه له دې ځایه څخه دهغو ز غروشکلو نه اوګروپونه چه وړی دانی لری پیدا شوی دی .

٦- کونځلې: په کښتو اومتوسطو ځایو کښې کرل کیږی اود ۱۹۰۰ مترو له جګوالی څخه ښه اوړی هغه ډول چه دانی ئی وړی اونسواری رنګ لری زیات لیدل کیږی، دپښتنی کونځلو انواع دایشیا مرکزی کو نځلی راپه زړه کوی .

۷ - مسور : دهنده څخه افغانستان ته راغلی دی ، په هرات کښې ددې نبات ز یاته اندازه شوك یعنی اغزی نه لری مګر دکابل په شاوخوا کښې اغزی لری ، تیل ئې لږاستعمالیږی مګردانی ئی ومرغانو اوالوتونکو ته ورکوی .

۸ - بیدانجیر : په مشرقی برخو کښې دکنړ د در یاب پرغاړه پەخودرویه اوطبیعی ډول لید ل کیږی خورا لږ کرل کیږی او د و ړو د انو Recinus Persieum او قرمزی نو عی Recinus Sanguinius څخه دی اوپه مشعل او څراغو کښې د سونګ دموادو په ډول استعمالیږی ،په مشرقی کښې مشجره لویه نوعه ئې هم شته اوپه قطغن کښې خورا لوئیږی دانبات په زینتی ډول کرل کیږی نه دتیلو داخیستلو دپاره ، د بید انجیر کرهنه دفارس اوهنده څخه وافغانستان ته راغلې ده .

۹ - کوکنار: دکوکنار عمده اومهم اقسام په هرات اود افغانستان په شمال کښې لیدل کیږی دنباتی خاصیتوله پلوه پښتنی کوکنار د۸-۱٤ څنډ یزو بیضوی شکلوله ډلی څخه دی اود شمالی اقسامو په مقابل کښې لنډوی اوژرپخیږی ، ګلان ئې کله کله سپین او کله کله سره داغونه لری،دپښتنی افیون (تریاك) مقدار زیات دی اود۱۱ څخه تر ۲۷ فیصده پوری میندل شوی دی .

۱۰ - دچرسو بوټی : دافغانستان په مشرقی خوا نورستان، دکنړ ددریاب پرغاړه اوجنوبی خواو کښې په طبیعی اوخودرویه ډول شته ، د کنړ ددریاب پرغاړه دهوسلیك څخه تر چغه سرای اودچغه سرای څخه ترجلال آباده پوری میندل کیږی .

دپښتنی دچرسو دبوټو جنسونه (شاه دانه) وړې مېوې لری ، زر دانی ئی د۲،۱ څخه تر۲،۷ ګرامه پوری وزن لری چه دنړۍ د شاه دانو دانواعو په نسبت ۷ یا۸ واړه لږدی .

خوشبویه تیلی نباتات : ددې نباتا تو څخه یوه د نیا نبات دی ( Coriander) اوبل ډول ئې Ammi Copticum زیره (Carum . Carvi) او(Cunpinum Carvi) اویوډول Cuminum - Cyminum او یو نوعه دنیا (Coriandrum'stivum'afghanicum) دی چه په افغانستان پوری اړه لری .

طبی نباتات په افغانستان کښې : دطبی نباتاتو شمېر په افغانستان کښې خورا ډېر دی دافغانستان په شمال (قطغن په تېره بیالوړ ځایونه ئې لکه اندراب ، نهرین ، فرخار ) کښې ، غرنی پیاز، هوزه ، پښې، شقاقل، زیره ، ترخه اوینجه پیدا کیږی . ترخه ، زیره ، ینجه ، پښې زیات اهمیت لری ځکه زیاته مساحه ئې په افغانستان کښې نیولې اویوه اندازه ئې و دباندینی ملکوته ځی ، مګر هغه اندازه چه د باندینی ملکوته ځی اوصادریږی دخلقو په واسطه صورت مومی . دانډراب او نهرین په سرحدو اودقطغن په نورو لوړو ځایو کښې طبی نباتات لکه بنفشه زرشك کاکوتی ، بابونه ، غرنی اپلنی او ترکی درمنه هم شته ، ددرسج په برخو کښې ، کرفس ، قرنې پو څکړ ( سمارق) هم شته ، په بدخشان دکشم په برخو ، دورانیم اوداسی نورو کښې راز راز طبی نباتات پیدا کیږی چه په افسنتین اوشقاقل له ډلی څخه دی اودجرم په برخو کښې وی ، افسنتین په هوار و برخو کښې اوشقاقل په غرو کښې لیدل کیږی برسپره له دې بنفشه او خوپړی دبدخشان په ټولو برخو کښې شته . که څه هم زرشك او قره قات هم په ډیرو ځایو کښې شته مګر په تیره بیا په (زادیو) کښې خورا زیات دی، مامیره چه دستر گو په مرضو کښې ګټوره دواده په پامیرات ، بروغللی ، زادیو،شغنان اوښپوه کښې خورا ډېر دی اوترکی دامنه اورېوند هم شته (کورهم) په ټول بد خشان کښې شته اودمشرقی وګړی ئې پخوی ، مګر دبدخشان وګړی ئې په پخولو اوټولولو نه پوهیږی دمملکت په جنوبی برخو کښې طبی نباتات دترخی څخه عبارت دی چه په ډیرو ځایو کښې پیدا کیږی، په جنوبی ځنګلو کښې عناب او زرشك او(Salvadoraparsica) او (Astragallus) هم شته اوهم دچترۍ ګل دنباتاتو زیات شمېر چه طبی نباتات ډېر کښې شته اودرېنو څخه ئی دغابنو دپاکولو دپاره دمسواك په ډول کار ځنی اخلی هم شته ، سپغول په ګرشك کښې په تېره بیادبغرا اوسیستان په میدانو کښې شته،لیباد Lipad چه د چینجیانو پرضداستعمالیږی او سپلنی چه دمفاصلو دخوږدلری

کولو دپاره استعمالیږی‌اوخرزهره ، پښې او افسنطین اوینجه هم پیدا کیږی ، ثعلب چه‌دیوه ډول ثبات له پیازه څخه Tind -of orchis را ایستل کیږی‌اود افغانستان په غرب کښی شیرخشت دهرات‌په بادغیسات کښی په‌تپره بیادغرو په لوړولحایو کښی چه د Mamnaliacotoneaste دیوه ډول نبا ته څخه را ایستل کیږی‌شته، زعفران‌اوزیره (په‌تپره یادهرات دغورات په‌غرو، جوند اوداسی نوروځایو کښی میندل کیږی ، تر نجبین شاه‌تره ، کاکوتی ، ترخه ، افسنطین ، دا تو ره ، عنب الثعلب سپغول ، اپلنی ، نعناع او ینجه هم‌شته .

شیرخشت دهرات دخورا مهمو طبی نباتاتو څخه‌دی چه دهرات په سفیدکوه ، میان‌کوه اوسیاه‌کوه کښی پیداکیږی، دمرکزی برخو طبی‌نباتات دافسنطین ، انیسون ، آرام ، خشنار ، قیصوم قرطب ، بوصیر ، ریمه،غویی ژبې ، بابونج، شاه‌دانه ، لته خار شو کران ، سورنجان ، حنظل، دیژیتال ، سگ انگورك ، خربق ، شبت، سرخس، شنگ . (زبان گنجشك) شاهتره ، انار ختمی ، کارگه تیکې،کاسنی ،بارتنگ (زوف) ژوبارب،داتوره سیکران، زغر، نعناع ،کوکنار ،پښې‌اوداسی نوروځخه عبارت دی ، نورطبی نباتات چه دمملکت په‌مختلفو بر خو کښی پیدا کیږی دادی :

( امی کوپتیوم) چه‌زیرې ته‌ورته دی اوعموماً په لوړو او معتدلوځایو کښی‌شنه کیږی(کروم کروی )Caraway هغه زیره ده چه‌دبدخشان ، قطغن اود( هرات غورات) کښی‌شنه کیږی .

( کروم سوگدیانم) خوشبویه‌اوپه پخلی کښې باب‌دی اوپه لوړو ځایو کښی شنه کیږی (کاسالتولا) په‌جنوبی‌اومشرقی برخو کښی (په‌هغو غرو کښی چه ځنگلونه لری) ترونو لا ندی شنه کیږی .

(کانتاریا) په‌معتدلواولندوځایو کښی په طبیعی اوخود رویه ډول شنه کیږی (سترولس کولو شبینتیوس) دبکوا په پراخو میدانو اوپه چخانسور او فراه کښی په طبیعی اوخود رویه‌ډول شنه کیږی .

( اورونتیوم ستروس) په جلال آباد اودجلال آباد دشاوخوا په‌باغو کښې روزل کیږی .

( ریمو نیوم ) په‌جلال آباد او دجلال آباد دشاو خوا په باغو کښې، روز ل کیږی ( کور یاند روم ساتی ویو م ) په ډیرو ځایو کښی‌کرل کیږی اود مشتهی او خوشبویه نبات په ډول لګیږي .

(کومنیوم‌سی منیوم) په هغو برخو کښی چه زیره شنه کیږی ده کوی .

(دلفینیوم‌زالیل) په معتدلو اولندو ځایو کښی وده کوی .

(افیدراجرار دیونا ) د غربی‌او شمال غربی په‌لوړو برخو کښی شنه کیږی

(رفید را پاچی کلادا) د غربی او شمال غربی په لوړو ځایو کښی شنه کیږی .

(فیرو لا) د هرات په لوړو ځایو او د افغانستان‌په شمال غربی غرو او گل کوه کښی شنه کیږی .

(جاسی مینوم آف فیسینال ) په لندوځایواو معتد لوبرخو کښی وده کوی .

(مامور دیا چارنتیا) په مشرقی اوقندهار کښی کرل کیږی .

(میرستیکافراگروس) دمشرقی‌اوجنوبی‌په‌ځنگلو کښی‌وده کوی .

(میرتوس کمیونس) دجنو بی‌اومشرقی په ځنگلو کښی‌وده کوی.

(مارو مودورم)په جنوبی، جنوب‌غرب‌اومشرقی کښی وده کوی.

(او سیموم بازیلیکا ) په هرات ، قطغن او مرکزی برخو کښی لیدل کیږی .

(پاپیرسومنی‌فیروم ) په قطغن ، هرات‌اومشرقی کښی کرل کښی کیږی .

(پونیکاگراناتوم ) دافغانستان په ډیرو ځایو کښی لکه‌قندهار شمالی اومشرقی شنه کیږی .

بر سیره پر نو موږ و طبی نباتاتو نور نبا تات هم د ویلووړدی‌چه یوازی د نامه‌په یادولوئی‌اکتفا کوو لکه ؟ هزار برگ جذولا ، ثعلب ، بارمنگ ، چوبه ، قدومه،جینجرك،ختمی پریږ،خردل‌رازیانه ، سدلب اوداسی‌نور هم په ځینو ځایو کښی لږوډیرلیدل کیږی .

میوه لرونکی نباتات په افغانستان کښی : په‌افغانستان کښی د باغی محصولا تو او دونو د کر هنی مهمی منطقی د قندهار هرات ، مزار شریف ، کابل ، قطغن او جلال آباد څخه عبارت دی ، د کابل په شمال کښی ( کو هستان او کوهدامن) په‌ډنداو دارغنداب‌په‌غاړو کښی‌او همدغسی‌په‌ایبک ، تاشقرغان، انجیل غوریان ، ادرسکن‌دهرات‌په‌سبزوار ، فتح آباد سرخرود او جلال آباد کښی‌ونی‌او باغونه زیات‌لیدل کیږي . دونوویش‌دآب هوااومنطقی‌دجگوالی‌دخصوصویاتوله‌رویه کیږی په‌لوړو برخو کښی توت ، بادام ،گیلاس‌او آلو لیدل کیږی انار او اوغز ( چارمغز) بهی په معتدلو برخو کښی اونار نج لیمو او مالته په کښتو بر خو کښی وده کوی په هرات کښې انګور او ختکی او په قندهار کښې انګور، انار، انځر، زردالو (مندته) اوغز او په قلات او غوربند کښې اوغز او بادام اوپه ایبك او تاشقر غان کښی انځر او با دام او په کوهدامن کښی منې ،ناك، انګور او توت اوپه بدخشان کښی ناك او منې اوپه جلال آباد کښې نارنج ، مالته،مته او سنتره شهرت‌لری . مگرپه‌جلال‌آباد کښی پرته له‌لیمو نوری میوې‌ئې دهند دمیوو په مقابل کښی وړی اوتروې‌وی‌اواصلاحات غواړی. خرما (کجوری) برسیره پردی چه په‌جلال‌آباد کښی‌شته‌دفراه

په نزدې مځکو (خرمالیق) اودبکوا په دښت کښې هم ښایی شنه شی او وده و کړی . دپستې ، شنې (خنجك) او با دامو طبیعی اوخود رویه ونی په هرات (بادغیسات ، غورات او ادر سکن) کښې او په شمالی ځنګلو او قطغن او بدخشان کښې زرشك اوغرنی بادام او دسفید کوه په ځنګلو کښې بادام، اوغز، خود رویه ناك زرشك ،انګور ، اومځکنی توت پیدا کیږی ،جنوبی ختیځ ته ځنګلو کښې شته .

دتوت ونه : توت دوه ډوله وی ، یوه ته (Morusalba) وائی چه سپین توتان ځنی راوتلی دی او بل ته (Morusnigra) وایی چه تیره توتان ځنی راوتلی دی ، د توت نور اقسام لکه کمر او آبی رنګه دسپینو او تورو توتانو د جنسو ګډون له پلوه پیدا شوی دی ، دتوت اقسام په تېره بیا دکابل او د کابل دشمال په برخو (کوهستان او کوهدامن) کښې پیردی اودا اقسام دقندری یاشصتی توته څخه عبارت دی چه میوه ئې خوږه اودانې ئې لوی وی اوهغه وچوی او دقوریو دتشکیل دپاره کار ځنی اخلی اوپه (Morusalba) پوری اړه لری ، د رقص توت سور رنګ لری مګر داوبو مقدار ئې ډیر اود خوږوالی مقدار ئې دابراهیم خانی توت په نسبت لږدی ، ګرد ې دانی لری چه پر هواری سطحی باندی څرخی ،ښایی دتسمیې وجه ئی هم همدغه وی .

بل توت ځنجانی توت دی چه دانی ئې دابراهیم خانی توت په نسبت لویی اوخورا نری دی رنګ ئی سور اوتوروزمه دی ، بل ډول توت برفی توت دی (برف توت) لومړی سپین رنګ لری اوپه پوخوالی کښې ګلابی رنګ مومی. نازك وی مګر او به ئې زیاتی اوخوږوالی ئی لږوی (پلاوتوت) بل رقم توت دی چه دانی ئې وړې اوسپینی وی، خوازه، نازك، اوډیر پایښت لری او ترمیزان اوترهغوچه پانې په رڼا پدو پیل و کړی پرونو باندی پاته وی .

شاه توت : ونه یې کلکه اوغښتلې او پانې ئې پنډی ، زیږې اومیوه ئې تیره سور رنګ لری خوندئې میخوش او خندور وی، ددی ونی عمر زیات دی ، دانی ئې له ونی څخه په سختیر سره شکولی کیږی ،دتوت وروستنی ډول بیدانه توت اوشیر توت دی چه خورا نازك اودانې ئې تر غاښ لاندی نه محسوسی کیږی .

داغوزونه : په افغانستان کښې دری ډوله اغوز میندل کیږی . (Juglans Fallax Jugalans-regia ) چه هر یو ئی په مختلفو شکلو دی، اوپه نورستان کښې خود رویه ډول J . Kl aonia شته ، دافغانستان په شمالی برخو کښې دری ډوله اغوز شته ، کاغذی اغوز چه نازك پوست او ز یات مغز لری سنګی اغوز چه کلك پوست او لږ مغز لری ، هر اتی اغوز چه ونه ئې وړه اومیوه ئې هم خودرویه اواوزد شکل لری ،ډیر حاصل ورکوی، دایمك ، تاشقرغان اوقندهار اغوزونه خو را لوی دی .

دمندتی (زردالو) ونه : دزردالو اقسام په افغانستان کښې ډیر دی لکه :

۱- P . ar . var . domestica

۲- Prunus armenicar . var . divaricata

۳- P . var . nectarina

دزردالو اصلی وطن دکابل شمالی خوا وی دی (کوهدان ، کوهستان) چه په محلی اصطلاح مهم اقسام ئې قیسی دی ، سپین سره اوخورا خوازه اونازك وی .

امیری مندته (امیری زردالو) : بیضوی شکله او لوی دی ، اوږ دوالی ئې تر ۱۲ سانتی متروپورې رسیږی ځلویښت دانی ئې یوسیر وزن لری ، سره اوسپین وی، مګر د قیسی په نسبت خوږوالی ئې لږوی .

سفیدچه : دامیری زردالو په نسبت واړه وی .

میر محمدی زردالو : دامیر شیرعلیخان په زمانه کښې یوه سړی چه میرمحمد نومیدی دازردالو ئې دنوموړی امیر د ورور سردار محمد امین خان نومی دپاره را وړی او په دی نامه و بلل شو .

آغا بانو زردالو : رنګ ئی سوروزمه ژیړ اولوی والی ئې متوسط دی ،نازك ،خوازه اوخوند وردی ، لوی والی ئې دقیسی په اندازه دی . دازردالو وچوی هم .

قندك زردالو : واړه وی، رنګ ئې ژیړ اوخوازه دی .

تمسق : قرمزی سور رنګ لری او ر یښه داره وې ، مغزیی د هستی او مندکی سره مښتی وی ، مندکی ئی تر خی دي .

شکرپاره : د قندهار شکرپاره خورا خوازه او مشهوردې

د شفتالو ونه : د شفتالو نو عیت په افغانستان کښې د میوې او د مندکی د لوی والی له رویه تاکل کیږی . کله کله په شفتالو کښې یو بل ډول چه زړی ئې د غوښو سره مښتی وی اومغزئی سوررنګ او خوندور وی د شلیل په نامه یاد یږی معروف شفتالو د افغانستان په شمال کښې د قندهار د شفتالو څخه عبارت دی چه کوچنی سره او ژرپخیږی ، ګل بسر څفتالو یو بل ډول شفتالو دی چه په اصل کښې دغټوالی په نسبت (ګر به سر) نومیده ، سره، غټ او خوازه دی ، دمیوې مغزئی هم سپین اوسره وی. نش منځی شفتالو د ګل بسر په نسبت واړه وې اوسور رنګ لری ښه خوازه اومغزیې سپین وی اوسرې لیکی لری. بل ډول یی ګار دی شفتالو دی چه رنګ ئی ژیړ اوسور والی ته نزدی دی، غوښی ئی چه تر پوست لاندی دی ژیړ رنګ لری غټوالی ئی متوسطه او زړی ئې په غوښو پوری مښتې دی، دقاضی شفتالو بل ډول

شفتالو دی چه سپین رنگ لری او.مند که ئی په غوښو پوری مښتی وی .

د بادام ونه : بادام ډیر اقسام‌لری چه‌د رنگ ، پوست ، کلک والی ، غټوالی او دمغز د نورو صفتو له رویه سره تفریق او جلا کیږی ، دا اقسام دمعمولی‌اقسامو لکه ، کاغذی ، خوازه تلخک ، دورنگه بادام ، مشرقی بادام ،دبرگ بید بادام اوله مغزه ډک بادام څخه عبارت دی ، ښه‌ترا بادام او اقسام ئی په ایبک ، قلات ، تاشقرغان او غوربند کښی‌لیدل کیږی، اقسام ئی کاغذی، کورکی‌او تلخک دی، کاغذی بادام‌هم‌گرمه لری او هم‌سرده . دگرمه با دام پوست نازک او پخپله غټ او د مخه پخیږی او سرده ئی وروسته پخیږی سنگی‌بادام هم گرمه او هم سرده لری او هم‌د مخه او وروسته پخیږی .

د بهی ونه : چه اقسام یی د (C . Varmalyformis ) او (C . Pyriformes ) څخه عبارت دی چه لومړی ئی گرد اودو هم ئی لږ څه اوږده او د ناک په شکل وی د بهی څخه مربا جوړوی او هم ئی د پخلی د پاره پخوی او خوری ئی اومه ئی هم خوړل کیږی .

دانارونه : انارپه‌قندهار د کابل په‌شمال، هرات ، مشرقی،تکاب او نجراب کښی‌پیدا کیږی. دقندهار انارددانود غټوالی دمیخوش خوند او پوست‌د نازکوالی له پلوه مخصوص‌امتیاز لری اوډیر مقدار یی د با ندی ملکوته استول کیږی . د قندهار انار د ۱۷ څخه تر ۱۸ سا نتی مترو پوری قطر لری او باغونه یی د ارغنداب په سیمه کښی دی ، ددانی ر نگ یی تیره سور دی . په‌نورستان کښی خود رویه اوطبیعی انار شته چه کلک پوست لری او دانی یی هم لږ څه وړی دی خو ند یی، خورا تریو او قطر یی تر ٦ سانتی مترو زیات نه‌دی . همد غسی‌خود رویه انار د سلیمان په غره کښی هم لیدل کیږی ، بیدانه‌انار په مشرقی او تکاب کښی پیدا کیږی ، دانه داره انار میخوش اوتر وه انار په مختلفو اقسامو وی .

دانخرونه : انخر دومره بارز صفتو نه نه لری ، ښه انخرد افغانستان د نورو نقطو په‌نسبت په قندهار کښی پید ا کیږی‌او د افغانستان په شمال او نورستان کښی‌هم‌پیدا کیږی، اقسام یی دانه داره‌سره انخراودانه داره‌سپین‌انخر او بیدانه‌سپین‌انخردی.

دمنی‌ونه : د قطغن ، مزارشریف ، قند هار ، منی یعنی په‌تودو اوهغو ځایو کښی چه لږجگوالی‌لري چندانی‌خوندوري،خوږي او لطیفی نه وی . دبدخشان ، کابل ، کوهستان او کوهدامن منی ښه‌دی . دکابل په شمالی کښی د منو مشهور اقسام دادی

۱ ـ جورس منی : دا منی وړی او ژ رپخیږی ،سری اوسپینې وی ، ونه یی متوسطه ده .

۲ ـ سردار امیرخان یاتیرماهی‌منی : د جورس په نسبت غټی نازکی او خوږی‌وي ترجورس‌وروسته پخیږی‌اوښی‌سری کیږی

۳ ـ گلی‌منی : غټی ، سری او بیضوی شکله وی او ترتیرماهی وروسته پخیږی .

٤ ـ نازک بدنې‌منی: دا منی نازکی ، سری او سپنیی وی ، دومره نازکی او لطیفی وي چه‌د پخیدو په وخت کښی چاودی پکښې پیداشی.

٥ ـ حنیفه منی : شکل یی گرد اودواړوخواوته ژوروالی‌لری اوپه ژمی یی خوری یعنی دمنې په پای کښی پخیږی رنگ‌یی ژیړوزمه سور دی .

٦ ـ کډومنه : لږ څه بیضوی وی او سوررنگ‌لری ، غټوالی یی متوسطه او خوند یی لږ څه تریخ او اوبه هم لږ لری .

۷ ـ حلوائی منه : خوزه او نازکه وی ، رنگ‌یی ژیړ وزمه سپین دی .

۸ ـ آهنگری‌منې : کلکی‌او وړی‌دی ، ډیرپاینت‌لری ، خورا سړې او توروالی ته مایلی‌وی ، دیوه فصله څخه وبل فصل ته پاته کیږي .

د ناک ونه : داونه د مملکت په ډیرو ځایو کښی پیدا کیږی یو ډول یی چه هیترو فیلا ـ ( P.Heterophylla ) نومیږی‌او مختلف‌الشکله پانې لری په قطغن کښی‌لیدله کیږی‌چه (۱۷۸۰ مترەجگوالی لری) د شمال دوگړو په اصطلاح دناک اقسام د سمرقند د ناکه څخه عبارت دی چه نازک ، خوازه آبداره او بجن اوژیړرنگه دی او ډیرپاینت‌لری . په لومړی سر کښی شنه او بیا یی رنگ ژیړ شی ، بل ډول یی یخ ناک دی چه نازک او شین رنگ لری بل ډول یی شکر امرود دی چه د سمرقندی او یخ ناک په نسبت غټ او ژیړ رنگ لری پاینت نه‌لری‌ځکه‌ژرباید وخوړل‌شی ، خوږوالی‌یی‌زیات‌دی ، فرانسوی ناک بیضوی شکله‌وی ،رنگ‌ئی‌شین‌او گلابی‌وی‌خوندیی‌میخوش دی ، آبداره او معطره میوه لری ، بل ډول غوری ناک دی چه غټ او اوږد شکل لری ، رنگ یی ژیړوزمه شین او پاینت یی لږ دی

د آلو ونه : د آلو ونی په سړو او معتدلو ځایو کښی خورا زیاتی‌شنی کیږی، خورامشهورآلوډبخارا آلودی چه وچیږی، خوندیې‌میخوش‌اوطبی‌خاصیت‌لري ، بر سیره‌له‌دی چه‌دمملکت‌په دننه کښی لګیږی و د باندنیوملکوته هم صادریږی .

بل ډول یی چه ( Divaricata ) نومیږی هم‌شته‌اوخان آباد ته نزدی خورا ډیر پیدا کیږی . د (کبک‌سلطانی) نوعه‌هم په قطغن او چاریکار او نورو ځایو کښی هم زیات پیدا کیږی .

گیلاس او آلوبالو : په سړو او معتدلو برخو کښی شته ، په تیره بیا د کابل په شاو خوا کښی (د کابل په‌شما کښی‌ډیر وی ) دآلو انواع د سرو آلو بخارا څخه عبارت دی چه‌وچ او تازه لګیږی ، بل ډول آلو بخارا ژېړآلو بخارا دی چه ژېړ رنګ لری او وچ یی لږاستعمالیږی او قیمت یې لږ وی . بل ډول یی (شنه آلو ) دی چه شین‌رنګ‌لری اوپه‌تازه صورت لګیږی مګر نه‌وچیږی، بل ډول یې (ګردآلو) دی چه دنورو انوا عو په نسبت غټ او غوښی یی کلکی اوزیږي دی .

کبک سلطانی آلو چه‌غټه ، خوند یی ښه او په لومړۍ‌سر کښی شنه وی ، وروسته سره‌شی وچوی یی هم ، د نلک آلوچه وړه ده چه و چوی یې او په ننګولی(سالن)اوښوروا کښی‌یی اچوی .

د ګیلاس داقسامو څخه یو غټ ارغوانی ګیلاس دی‌چه په نسبتاً سړو اولوړو ځایو لکه لغمان کښی لیدل کیږی او بل ډول یی سره ګیلاس دی چه په‌نسبتاً کښتو برخو کښی‌لکه چاریکار لیدل کیږی .

د سنځلو ونه : د افغانستان په ډیر و ځایو کښی لیدل کیږی میوه یی خوږله کیږي او لرګی یې دسونګ او نورو شیانو د پاره استعمالوی ، دویالوپرغاړه او مخکواوپټیو پر شاخوا باندی کښینولی کیږی .

د عناب ونه : عناب هم په طبیعی او خود رویه ډول په‌ځینوځایو لکه‌هرات ، کابل،جلاآباد،قندهار کښی‌لیدل کیږی، په نورستان کښی د (۲۰۰۰) مترو په جګوالی لیدل شوی‌دی ، ښه ترایی په جلاآباد کښی شته .

د نارنج ، لیمو ، مالټې‌اوسنتری ونې : دا ونې په مشرقی‌برخو کښی لیدلی کیږی . پرته له لیمو نور نوموړی انواع په خپل صفت کښی کښته او اصلاحات غواړی .

د خرما ونه : خرما په جلاآباد کښی شنه کیږي اوهم د(خرما لیق ) په منطقه کښې چه دبکوا اوفراه‌ددشت تر منځ ده ونی‌یی لیدل کیږی .

پسته : د افغانستان په شمال او غرب کښی‌خورا ډیره‌پیدا کیږی پسته د افغانستان د تجارتې موادو څخه ګڼله کیږی ، بر سېره پر میوې‌هغه‌غدې اومر غړی چه پرونی باندی شنه کیږي اود بزغنج په نامه یادیږي . او هم د هغه‌د کنډ ( ګند) څخه چه پرونی باندی پیدا کیږي کاراخلی ، دزغنجه څخه د دباغی په صنعت کښی کار اخلی ، پسته په متو سط جګو الی کښی پر هغو غونډیو چه رس اوشګې لری شنه کیږی ، بل نبات چه د پستې له کورنۍ څخه دې او ونی یې لویه او دمیوو څخه‌یې تیل را باسې اویا بیله دتیل‌اسیتلوڅخه‌یې‌لګوې شنې (خنجک) دې ، د قطغن او مزارشریف پستی‌دهرات‌د ولایت اوبادغیسات په نسبت وړې دانی لری ، په دې سبب چه دپستی دونوپه ګټه اخسیتلو کښی د خلقو له خوا بی احتیا طې کیږی ونې یی‌په لویه رقبه کښی له منځه تللې دی .

دجنغوزې ونه : د جنغوزې ونه دنورستان او دجنوبی په ځنګلو کښی شته او ګټه ځنی اخلی دجنغوزې دونی دانې تو لوی او خوری یی اوپه ژمی ډیر جنغوزی و کابل ته راوړی او په ښه قیمت یې خرڅوی .

نسجی نباتات په‌افغانستان کښی :

۱- پنبه دمرکزی ایشیا وګړی داستوګنی‌اودژوندانه‌د کیفیت لامله دپنبې و کرلوته اړشوه په افغانستان کښی د پنبې کرهنه په ډیرو او مختلفو ځایو کښې کیږی‌لکه‌قطغن ،مزار شریف هرات ، فراه ، شین دنډ ، چخانسور ، قندهار ، جلال آباد ، چاریکار اوداسی نور پرته له‌ځنو محدودمځکو چه په قلعه نو فیض آباد اود میمنې په جنوب کښی دی په نورو ځایی کښی دپنبې کرهنه ټوله آبی وی ، دپنبې اقسام په افغانستان کښی درشمی پنبې له‌ډلی څخه دی چه په جنسیت کښی په افر یقائی انواعو پوری اړه لری ، پهرات، فراه ، شین ډنډ ، قندهار ، خان آباد اود قطغن په نورو ځایو کښی ر شمی پنبه کر له کیږی ، همدغسې دپنبې کرلو یوه‌مهمه برخه په‌چاریکارو کښی له دغې ډلی څخه ده دا و طنی پنبې په قطغن کښې د جګت او قو قندی په نامه یا دیږی ،مګر نن د هغو پر ځای ښه پنبه چه امر یکائی جنس لری کرل کیږی ، مو یه لر و نکی اپلاند امریکائی پنبه دروسی ترکستانه څخه افغانستان ته راغلی‌ده ، لکه چه کرهنه‌ئې په مزارشریف ،تاشقرغان ،ایبك او چاریکارو کښی هم‌لیدله کیږی، دکنړ ددرې دسرحد په‌نزدی ځایو کښی دمسالیك څخه‌ترچغه‌سرای اودچغه‌سرایه‌څخه ترجلال آباد پوری لیدل کیږی چه ګوسیپ نګلکتوم Gossyp neglectum څخه مراددی اوقدئی‌نسبتاً ټیټ اوپانې‌سره‌پرې‌اوژیړ متوسطا لحجمه ګلان او واړه سره خلاص شوی کپسو لو نه او لنډ تارو نه (۱۵- ۲۰ سانتی متره) لری درشمی علفی پنبی اقسام ډ پر دی درنګینو ګلانو اقسام په رنګینو کپسولو او ګلا بی کپسو لو اورنګینو ساقو اوپڼو خورا ډپرلیدل کیږی .

دافغانستان پنبی دخارجی انواعو اغزې ګا للی او دجنس وتصفیی‌اواصلاح‌ته‌اړه‌لری‌په بلخ ،مزارشریف ، ایبك ، قندهار ، چخانسور اومشرقی کښی دپنې و کرهنې ته په‌لوئی‌پیمانې سره پراخوالی‌اوانکشاف‌ور کولای‌شو،برسېره پرپنبی باندی د سنډو رسی‌رجوړیږی‌اودځینو نورو نباتاتو لکه(Apocynum-Venelum) او ایریانتوس اروینا (Erianthus-Arvennae) څخه هم ګټه اخیستله کیږی .

تاك : دافغانستان په‌ډېرو ځایو کښې‌لکه کابل ، دکابل‌شمال (کوهدامن او کوهستان) قطغن، میمنه، مزارشریف،هرات، فراه قندهار اوغزنی کښې دتاك ونی شته، دصفتو او دحاصل دمقدار له رویه هرات، قندهار اودکابل شمالی خوا وی لومړی مقام لری . په‌فیض آباد اونورستان کښې هم دانګو رو باغونه په محدود شمېر لیدل کېږی، وروستنی جګوالی چه تر هغه لوړ اوجګ انګور نه لیدل کیږی (۲۱۰۰) متره دی ، خود رویه او طبیعی نوعه (وحشی تاك) داسمار په ځنګلو کښې لیدل شوې‌دی . سپین انګور اوتور انګور په‌ټولو مشترکور نګو سره چه دسپین اوتور ترمنځ وی ډېردی په هرات اومیمنه کښې په تېره بیا تنوع‌پی دکتلو اودقت وړده اود۰۷، سانتی مترو څخه متر ۲،۵ سانتی مترو پوری دا نی لری، کشمشی، خلیلی، حسینی،غوله‌دان، ایته، آبجوش اوقندهاری‌انګور په‌مختلفوځایو اومنطقو کښې مشهور دی، په‌قندهار کښې سره کشمشی اوژېړ کشمشی شته اوشنه اوتیره بې هم لیدل کېږی ، سپین وزمه انګوربې په قندهار کښې تر۲سانتی مترو پوری اوزدوالی لری اودآبجوشو په نامه یادیږی . دافغانستان دانګورو ټول اقسام د (Vitis Vinifera) په ډلی اوځانګی پوری اړه لری دکابل په‌شمال کښې چه دانګورو دمهمو مرکزو څخه یو مرکز دی لاندینی اقسام خورا مشهور دی :

۱ ـ سپین کشمشی انګور : چه دهغه څخه سره کشمش اوشنه کشمش لاس‌ته راولی اودټولواانواعو په‌نسبت خوازه او دسرکې اوالکول جوړولو دپاره ښه‌دی، داانګور ډېر پایښت لری اودانی نه لری، که لمرته وچ‌شی نوسره کشمش او که په سیوری کښې وچ شی شنه کشمش لاس ته راځی .

۲ ـ حسینی انګور : اوزدې اوژېړوزمه دانې‌لری، دانې‌پی ګلابی اوخوږ والی بې متوسط اوخورا خوند ور اونازك‌وی ، پایښت بې ډېردی ، د حسینی ددانو ترمنځ عموماژوری ښکاری.

۳ ـ سره کشمشی انګور : داډول هم‌بې دانې وی اوسور رنګ لری او وچیږی هم خوږوالی بې‌دسپینو کشمشی انګورو په نسبت لږوی .

٤ـ آبجوش انګور : رنګ‌پی سپین‌اوشکل بې‌بیضوی دی، په‌دانو کښې بې ژوری معلومیږی په وچ او تازه ډول لګیږی اوخورا خوازه وی . کله‌کله بې دانی ګردی وی .

۵ ـ منقه انګور : اوزده ، سره اوتور وزمه‌دی، پنډپوست لری، وچوی بې هم ډېری او پنډی هستې اومندکی لری .

٦ ـ غوله‌دان انګور : سپین ګردی او غټ وی، پوست‌پی نسبتاً پنډ اودتلی په‌میاشت کی پخېږی، ډېر پایښت کوی .

۷ ـ قندهاری انګور : یوډول بې هغه انګور دی چه دانی بې وړې اوبل ډول بې هغه انګوردی چه دانی‌پی غټی‌دی، سره چېنیارنګ لری اوخورا ژر رسیږی اوپخیږی، خوږ والی بې دنورو انګورو په نسبت لږ او خورا ښه اوخوندور انګوردی.

۸ ـ صاحبی انګور : دمنقې په شان سور رنګ لری ، لږشه سپین والی هم لری اودمنقې په‌نسبت نازك وی .

۹ ـ پرېشانه انګور : ځانګی‌پی سره خوری‌وړې‌ښکاری ، دانی بې توری اوګرد شکل لری .

۱۰ ـ خلیلی‌انګور : دانی‌پی‌دحسینی انګورو په‌نسبت‌وړې اوتر حسینی انګورو ځو ورځی‌وروسته رسیږی .

۱۱ ـ نادری انګور : دانی بې دحسینی په نسبت لنډې او شنې دی .

۱۲ کښه انګور : دانې بې سپینی او غټی دی اودلرم (عقرب) په میاشت کی پخیږی .

۱۳ ـ دکلك عروس انګور حسینی انګورته ورته دی‌مګر دانی بې اوږ دې او نازکی وی اوپه‌منځ کښې ژوری لری .

۱٤ ـ دچشم‌ګاو انګور : رنګ بې تور وزمه سوردی ، دانی بې غټی او ګردی دی .

په افغانستان کښې‌ځنګلی نباتات : مهم ځنګلونه دافغانستان په‌جنوب، مشرق، شمال شرق اومغرب کښې لیدل کېږی، دسپین غره په‌جنوب کښې اوداسماردغره په‌شمال مشرق کښې‌اودهرات دبادغیسات دغوندی په‌غرب کښې اودماما خیلو په شرق کښې مهمی‌ځنګلی ونی شته ، دمملکت په شمال کښې یعنی په‌قطغن میمنه، مزار شریف کښې هم مهم ځنګلونه شته چه داجناسو دتنوع له پلوه دجنوب اوشرق په‌نسبت محدود دی او هم خورا زیات متفرقه اوخواره واړه دی اوپه مختلفو محلو کښې خپاره شوی دی . د ( ۲۰۰۰ ) او (۳۰۰۰) مترو دجګوالی ترمنځ دهغو ځنګلو انواع چه لیدل کیږی د (سدر) او (راتیج) اود «صنوبر»دانواعو څخه‌چه دمنځی، نښتر اوبجور په‌نامه یا دیږی عبارت‌دی ،همدغسی ( P.Girardiana) چه دانی‌ئی دجنغوزې په نامه خوری اود ( Arix Communis ) هم وی (Penuspinea) او (Larch) د معروفو اقسامو څخه‌دی اوډېر استعمالیږی برسېره پرپور تنیویادشووونو (IF) yew ) فندق ریس خود رویه اوغز، خود رویه شفتالو ، خود رویه بادام ، زرشك، دولانه ،خود رویه انګور، شنګ ، خوون ، اکاسیا، میموزا اوعناب هم په‌دی‌غرنیو ځنګلو کښې پیدا کیږی ، دنیل بوټی او خود رویه لیمو په شمالی برخو کښې د غرو ترمنځ هم لیدل کیږی ، دتوسکا، شنې(خنجك) اولبور نوم هم‌شته . تردی ځنګلی و نو لاندی مختلف بوټی لیدل کیږی چه خو را مهم ئی دګلا نو ، انیسکل ، مخکنی انګور او نو ر ګلان لکه (Rhododendnom) مختلف اقسام‌دی اود (Ronaculaces)

دکورنی دنباتاتو اقسام اویوډول موریان اودکتیرابوتی اوهم په ځینو ځایو کښی د (Chaemerops humilis) بوتی چه ډیری گټی ځنی اخیستلی کیږی هم لیدل کیږی د مشرقی په ځنگلو کښی هم دسرو ، صنوبر او سدر مختلف اقسام لیدل کیږی ، همدغسی په نورستان کښی برسیره دصنوبر ، سدر ، جنغوزی په اقسامو نوری ونی لکه څهړی ، ریمه، خودرویه انار ،دولانه، خودرویه اوغزشته . مغربی ځنگلونه دپستی، شنی، منځی، سیاه چوب اوشیر خشته څخه عبارت دی چه دهرات په بادغیسات کښی شنه کیږی ، شیر خشت او منځی په نسبتاً لوړو ارتفاعاتو او جگوالو کښی شنه کیږی اود ادرسکن په برخو او دغورات په ځینو ځایو کښی دکتیرا بوتی اوترخه بادام هم شته، دشمالی، قطغن ، بدخشان ځنگلونه د پستی اومنځی لهونو څخه تشکیل شوی دی ، ترخه بادام ،زرشك او دولانه هم پیدا کیږی په نهرین، اندراب اوخنجان کښی،پسته، منځی اوپه دوشی کښی پرغرو باندی دهیڑ ونی چه خورا ټیټی دی خورا زیاتې پیدا کیږی ، دمصنوعی ځنگلو دونو اقسامو څخه پنجه چنار ، نیله چنار، عرعر، سپیدار، خدنگ ، ریمه . ولی ، شنگ ، پده، پشه خانه اوداسی نور دویلو وړدی چه دافغانستان په ډیرو ځایو کښی پیدا کیږی .

ځنگلی، د ښتی او صحرائی (بیدیائی) خودرویه واښه :

دداسی خودرویو وښو شمیر په افغانستان کښی زیات دی، په کابل او شاو خوا کښی ئی، داتوره ، ترخه ، سپلنی، کاسنی ، بارتنگ ، پیچك ، آبی گلك، دغنموگل، پای فاخته ، پیچك، خودرویه چنی، شیرك ، د غنمو کریزانتم ، د پا ستور کیسه ، لتهخار ، شوکران، مستار، شاهتره، زول اوداسی نور هم شته، خودرویه یادشوی نباتات دافغانستان په نورو بر خولکه غزنی، قندهار ،هرات ، میمنه ، قطغن ، مزارشریف کښی هم پیدا کیږی، ترخه اوسپلنی دغزنی اومقر او دمقر او قلات په پراخومیدانو کښی شته .

دسپین غړه اوداسمار په غرو کښی بیگونیا(Begonia) اوسیسو (Cissu)خورا زیات پیدا کیږی ،دغرو په لمړنیو او کښتو برخو کښی په تېره بیا په غربی خوا کښی ئی لږ واښه شته د سرخسو اوخزندو انواع هم لیدل کیږی . په نو موړو ځنگلو کښی ځینی واښه چه لیدل کیږی په عمومی ډول دلیگومیوز (Leguninosae) او(Papillonacees) دپروانو دگلانو د کورنۍ څخه وی . قندهار ته نزدې ځنی پراخ میدانونه دی چه ځوزان پکښی شنه شوی دی ،دغزنی په غونډیو او دغزنی او هزاره جات تر منځ یوبل ډول واښه چه گومل نومیږی شته چه خلق ئی ټولوی او په ژمی ئی وحیواناتو ته ورکوی ، پیاز، غرنی هوزه ، درومنه ، شقاقل اومیره داندراب ،نهرین اوقطغن په غرو کښی زیات دی .

د(Arodanche شکل) اودشفتلو پیچك هم د خود رویو او اومضرو و ښو څخه دی چه دنورو نباتاتو له شهری څخه تغذیه کوی، لومړی ئی دفالپز دنبا تا تو په منځ کښی وده کوه او دخپلو ریښو پذریعه دهندوانو ، څټکیو ، کپړو او دا سی نورو شیانو دریښو څخه شیره اخلی او دوهم ئی د شفتل ا و شپیشتو څخهژوند کوی اوپیچکونه ئی پر نومورې نباتاتو باندی راگرزی اوشیره ئی ځنی ځښینی .په پای کښی ددی خود رویو نباتاتو څخه یوشمیر نباتات شته چه په پټیو ،دښتو او په مختلفو ځایو کښی لیدل کیږی لکه آژیلو پونه اوداگرو پیروم اواگرو ستیس مرغه (کبل) .دقطغن په ځنگلو اودهرات په شمال شرق کښی یو ډول زیره پیدا کیږی . د ترخی اقسام مختلف دی ، ترخه دکپډی ددرد دلیری کولودپاره استعمالوی ، خود رویه یولاف اوخودرویه شکلونه هم لیدل کیږی ،شپږین بویه دمهموخودرویو نباتاتو له ډلې څخه دی،داشقا (Salola soda) انواع په جنوب غربی دښتو کښی خورا زیات لیدل کیږی .

غرنی خود رویه نباتات هم زیات دی چه دهغو څخه (ژوبارب) گندلی ، هنگ اوښایسته راز راز گلان ، انمونونه ، خود رویه بنفشه ، الشمی ، غرنی ژوبارب د غرنی ستوری گل ، سنسو لتهخار ، سانتوری ، کمپشیول ، ژر نتین او داسی نور مشهور دی چه په مرکزی غرو ، گل کو ، دهرات د غوراتو دغروپه برخواود قطغن او بدخشان په غرو کښی لیدل کیږی .

## ۱۱- دافغانستان صنایع : ترکرهنی دوروسته داهمیت له پلوه صنائع وی ، هر کله چه زموږ په مملکت کښی د کرهنی د پاره طبیعی عوامل د صنعت په نسبت ډیر د خیلدی او د کرهنی د پراخوالی او زیاتوالی امکان او شرطونه یی زیات راغوندو کړیدی نولومړی باید د کرهنی وپراخوالی ته بیړه وکړوو وروسته د صناعتی انکشافاتو ته متوجه شو . که څهم په حقیقت کښی صنایع او کرهنه یو د بله سره تړلی او دیوه انکشاف او پر اخوالی د بل اصلاح او پرمخ تگ سبب گرزی او تر ډیری اندازی پوری یو دبله سره لازم او ملزوم دي مگر بیا هم په دی دواړو برخو کښی بایدتوپیرو منو دصنائعو پراخوالی په یوه مملکت کښی طبیعی بدایی او پا نگی ایجابوی او بیله هغونه شو کولای چه د مملکت وصنائعو ته پراخوالی اوترقی ورکړو ، ددی ټروتی منابعو په ډله کښی کانونه دي چه وروسته به د څېړنه پرو کړو : د افغانستان مهم صنعتونه دفلزکاری آهنگری مسگری ، برنج کاری ، سرپ کاری دډبرو توزل ، دغالی اودل ، د کمبلو اودل ، کراستی اونمڼی جو ړول، دکالوصنائعو لکه وړین ، سپنسین توکران او دوریشمینوتوکرانو لکه قناویز ، نرمه او همدغسی دوړینو توکرانو لکه قاقمه ، کرک ، برک، پټواو همدغسی دکلالی

کاشی جوړولو رسامی ، نقاشی اوداسی نور وشیانوڅخه عبارت دی ، ددی‌چارو څخه ځینی‌چاری پخوازمانو کښی خورابشیړی او وروسته وروورو د ماشینی ټو لیداتو او صنائعو دپراخوالی‌له‌پلوه له‌منځه تللی‌دی اوځینی نورهی په‌دې سبب‌چه کښینولوشوو فا بریکو ز یات پرا خوالی موندلی دی له‌منځه وتلی‌دی دادی چه‌دهریوه په‌باب کښې لنډه څېړنه وکړو :

فلزکاری : دفلزکاری‌صنائع په‌افغانستان کښی دپخوا زمانو راهیسی موجود وه اودهغو آثارو څخه چه‌لاس ته راغلی دی تر اسلام خو را پخوا زمانوته رسیږی اودامسئله څر ګندوی چه زمونږ دمملکت و ګړی‌دپخوا زمانو را هیسی د فلزاتو په را ایستلو اوترکیب خبروه اومختلف فلزات هی دخپلو کار آمدو صنائعو دپاره استعمالول، ددی فلزاتو څخه یوفلز اوسینه‌ده چه داستفادې وفن‌ته هی آهنګری وایی . آهنګری تقریبا په ټول مملکت کښې شته اوباب دی اووګړو دخپلو اړ تیاو دپاره داوسپنو دتیارو تختو څخه کار اخیستی‌دی‌اود کرهنی ډپراسباب اولوازم لکه یوم، کلنګ ، سپاره او دپخلی او ډوډی‌ر خوړلو ضروری سامان اوداسی‌نورشیان یی لځنی‌جوړول اوجوړوی‌ږی، آهنګری په‌کابل قندهار اوهرات کښی‌ډېره‌ده، دجستی او سپنی څخه چه‌دآهن چادر په‌نامه یادیږی، آبدانونه اومختلف لوښی جوړوی، دآهنګری‌ر یوه مهمه څانګه تیغ جوړول دی چه په لغمان، تیګری اوچاریکارو کښې هی زیاته ترقی کړې ده . او ددی دوو برخو تیغونه اوهمدغسی، چړې، چاقو ګان اوبیاتی‌ر هی دصفائی، آبداری‌ر دفولادو صیقل اوپریکولو اوغو شولو له‌پلوه دتوجه وړدی .

مسګری : مسګری هم دآهنګری‌ر په‌شان دمملکت په‌ډېرو ځایو کښې عمومیت لری خلق خپلی اړتیاوی لځنی پوره کوی په‌ټهره بیا دیګونه، پشقابونه اوکاسې لځنی جوړوی، مس‌دتختو په‌ډول له دباندی ملکو څخه راځی اوخلق تړې‌استفاده کوی، داصنعت په‌کابل، هرات اوقندهار کښی خو را زیات باب دی، په‌قندهار او بدخشان کښی دمسی‌لوښو څخه نری‌ر شبکې او ښایسته اونفیس شیان جوړوی اوښکلی نقشونه پکښی جوړوی.

برنج کاری : غزنی‌دبرنج کاریودصنعت مهم‌مرکزدی، هلته ښایسته اوښکلی برنجی لوښی جوړیږی، په‌قندهار اوکابل‌کښی هم د(ژېړو دبرنج) څخه مختلف لوښی‌جوړوی‌مګر په ښایست، نفاست اوصفایی کښی دغزنی د برنجی لوښو ومر تبې ته نه رسیږی .

زرګری : زرګری تقریباًدمملکت په‌ټولو لویو اوکوچنیو ښارو کښی شته، زیاته برخه هی سپین زر اوپه دوهمه درجه سره زراوجواهر استعمالیږی، په عمومی ډول د پسول اوګانو دجوړولو اونورو تزئینی لوازمو اوکله‌کله په کورنی لوښو کښی هم استعمالیږی . مګر ښه ترازرګران په قند هار، کابل اوهرات کښی‌وی، په‌ټهره بیادکابل او هرات زرګران خورا ښایسته اونفیس شیان لکه ګوتی ، وښی، پای زیب دغاړی همبل، لښتی‌ر اوداسی نورشیان جوړوی .

سرپ کاری : دسرپو ډېره برخه پخپله په مملکت کښی دمکشوفه‌کانو څخه‌اخلی لکه‌دغور بند دفرنجل‌کان دبهسودوکان اوداسی‌نور، چه دهغوڅخه ساچه‌ې‌دتوپك مرډك‌اوځنی‌نورشیان جوړوی .

ډبری‌توږل : ډبری‌توږل لکه چه‌دمخه موویل‌دافغانستان دخورا پخوانیو اووطنی فنونو اوصنعتو څخه‌دی اوترنه پوری په‌ډېرو ځایو کښې شته اوښه رونق لری ، په‌ټهره بیا دقیمتی اونفیسو ډبرو دکانوو وجود چه دمملکت په‌مختلو برخو کښی پیدا کیږی دی صنعت ته هی ډېره ترقی ورکړې اوروځ په‌روځ مخ پر بشپړېدو دی . دکابل دحجاری‌ر او نجاری‌ر فابریکه دحجاری‌ر په‌شو، کښی خورا ښایسته ډبری دمیزو او دیوالو دمخ اودلو کسو کوټودغولی‌دپاره‌جوړوی اوهم‌ډبری توږونکی مختلف لوښی اوسامان لکه کاسې، پشقابونه، دځراغ شیټونه اوداسی نور شیان دمرمر اوداسی نو رو ډبرو څخه په خورا نفاست اوښایست جوړوی چه په نندارتون کښې اېښودل کیږی او په مخصوصو دکانو کښې خرڅیږی .

دډبرو دتراشلو (سنګ تراشی‌ر) اوحجاری صنائعو اهمیت اوخصوصیت دهغو ډبرو په‌نوعیت او څرنګوالی پوری تړلی‌دی چه‌په منطقه کښې پیدا کیږی مثلاً دقندهار په‌نژدی ځایو کښې چه‌شاه مقصودیودتیږو کان شته‌دی‌چه‌دډبرونفیسوشیانو دجوړولو مخصوصا تسپو، امیلونو، غمیو سګرټدانی‌ر او ددا سی نورو څیزو نو دپاره خصوصیت لری . په کابل کښې دډبرو مشهور کانونه شته‌دی چه‌په هغو کښې دمیدان دمرمرو تیږی اودخواجه بغرا رګ‌لرونکی ډبری‌ډېر شهرت لری‌چه‌په ودانیو اود نورو سامانو په جوړولو کښې تری پوره کار راخستل کیږی . په بدخشان کښی دلاجوروولوی کان شته دی چه له‌هغه څخه په‌ځپله بدخشان اوکابل کښی دډبرو ښکلو اوښایسته څیزونودپاره‌کار اخستل کیږی لکه غمی ، ګو تی ، ۱ میلونه . دلاجورو ډبری دبهر نیو خلکو په‌نزدډېر مقبولیت لری‌خوله دغو ښکلو ډبرو څخه نسبت کورنی لګښت ته‌ئی په‌خارج کښی چندان غوره تجارت‌نه‌دی پیدا کړی اوله‌دغو ډبرونه غیرنوری معمولی ډبری چه په و دانیو کښې تړې کار اخستل کیږی په ټول افغانستان کښې عمومیت لری .

مفروشات : دافغانستان دمفروشاتو صنائع هم ډېر پخوانی دی خوکوم شی چه‌ددغو صنائعواهمیت لاپسی زیاتوی‌هغه دادی

چه په دوی کښې ټول اصیل مواد کارشوی‌وی، اوهغه خیزونه چه په کښې اودل شوی وی هغه کاملا اصیل او ډیره مـوده پاتـی کیدونکی اونـه زیـدونکی وی لکه وړیـ وریښم ،پنبه اوداسی نورددغو صنائعو مهمترین انواع په لاس ډول سره دی :

غالیې : غالیې د پوستکو نه‌وروسته دافغانستان‌ډیر غوره پیداوار ګڼل کیږی او ددی درکه دافغانستان د شمالی خواؤ وګړی‌ئی له پلورلونه ډیرګټې اخلی لکه‌دمزارشریف ، میمنی اواندخوی ولایتونه .

په‌هرات کښی هم غالیې او دلی کیږی چه په ښه وا لی اوښکلا سره شهرت لری. دغالیو تجارت د ننه په هیواد اوله هیواد نه د با ندی و طنو کښی کیږی . د افغا نستان غا لیې دښه‌والی اوهم دکلك والی اورنګ په لحاظ د ډیر اهمیت وړ دی چه‌هرخومره استعمال کړی‌شی هماغومره ښه رنګ وباسی اوښی کیږی. دغالیو داودلو صنعت هم‌په افغانستان کښی لکه دقره‌قلی پوټکو غوندی د ډیری پخوانیې مودی نه‌راپه‌دی خوا په دې مملکت کښې رواج لری بلکه دقره قلی پوټکو نه هم د وړاندی والی (قدامت) په لحاظ څو پیړیې وړاندی دی دغه صنعت لکه څنګه‌چه دمیلادنه پخوا په‌روم، یونان، مصر، آثور اوداسی‌نورو پخوانیو ملتونو کښی‌رواج درلود زمونږ په‌ملك کښی هم‌له پخوا زمانوڅخه رواج لری دغه‌تاریخی صنعت ښائی چه‌په‌همدی محیط پوری مخصوص وګڼل شی‌ځکه چه‌آب اوهوا اودشنو دښتو وجود دوړینو حیواناتو په روزلو کښی اسانتیا راولی او بالاخره دکښت کموالی او دکوچیانو وجود دقالین اودلو دصنعت دترقیې اوپرمخ تګ دپاره پوره مخه پرانیزلی ده دیونا نیانو ،رو میانو اوداسی نورومؤرخینو له پخوانیو کتابونو او آثا ر و څخه څر ګند ه ده چـه د قالین اودلـو صنعت له پخوا مودی څخه دآسیا په مرکزی بر خو کښې پیدا شوی دی اوبیائی دمسیحی دریمی پیړیې نه تر دوولسمی پیړیې پوری ښه رونق او ډیره ترقی لرله او له‌دی عصرنه ورو سته دغه صنعت بیخی زوندی اومخ په ترقیې دی خو دپسونو جنسونه اودوړیو رنګول‌ئی څه‌ناڅه ګوتې‌وهل (اصلاح کول) غواړی.

دقالینو وړیې : هغه‌وړیې چه‌دقالینو په‌اودلو کښی پکاریږی دوطنیو پسونو دی اولکه څنګه چه پاس یادشول د پسرلی له وړیونه ښې اعلا اودمنی له وړیو څخه برابری او لاندی درجه قالینی جوړیږی.وړیې په‌اول کښې وینځی بیائی زو منځ کوی یعنی پاکوی ئی اوپس له دی‌ئی وریښی بیائی کلکی تاو وی ودوسته له‌دی رنګ ورکوی هغه رنګونه چه دقا لینو وړیونه ورکول کیږی عموماً دپخو معدنی او جواهرو څخه وی خوکله ناکله په کښی له‌خامو رنګو څخه هم‌کاراخیستل کیږی . رنګونه له‌مختلفو منابعو څخه پیدا کیږی مثلا دسره رنګ دپاره یو قسم پخو انی قرمز کار کوی چه له یوقسم دریابی‌صدف نه اخستل شوی‌دی او په فلزی رنګونو کښی په‌ډیر تود والی او اوزدی زمانی په‌تیریدو سره پخیږی خودسره رنګ مهمه برخه دقرمز له‌دانو څخه حاصلیږی زیړ رنګ له«اسپرك‌اسپرت» نه اخلی‌او آبی‌رنګ خوئی له نیل څخه‌عبارت دی‌ځګری رنګ‌ئی دلونګو له نبات څخه‌حاصلیږی‌چه «په‌عربی کښی‌ریوند» بولی تور رنګ په‌خپله دوړیو طبیعی دی‌اوکله ناکله دغه رنګونه سره ګډه وی اوله‌دی‌نه ښایی څونور فرعي رنګونه‌لاس‌ته راولی کله چه سنیې (نخ)جوړیږی‌شوې‌نودقالینی په‌اودلو پیل‌کوی اوتنسته‌ئی چه‌په‌کار اچوی نو ډیره ساده او دځلور پښیزو لرګیو څخه عبارت‌ده چه د قا لینی په اندازه ودرول کیږی او په دوو خواؤ کښی یعنی دقالینی دبیخ دغه پښی دلرګیو ستنو سره یوځای کوی .

په‌افغانستان کښی قالینی عموماً بیخی اوبی اودا ودونکو شمیر دتناسب په اندازه او دهرچا برخه دهغه‌توان او وسی په‌اندازه تاکل کیږی یعنی که چیرته د قالینو اندازه له ۳تر ۳،۵مترو پوری نیول شوی وی نو ۳-٤ اودونکی ورته پکار یږی ځکه چه‌دیوسړی لاس‌له‌یومتر نه‌زیات‌نه رسیږی څوچه دسنیې تیرول یعنی او دل په درستیې سره وکولی‌شی همداوجه ده چه دوړو قالینو اودل نسبت لویو قالینوته مخصوصاً چه ډیری سورووی هم‌وی -آسانه‌دی کومی قالین‌چه په‌افغانستان کښی اودل کیږی دهغو کښی او تنسته دواړه وړیې وی او څرنګه چه په اکثرو خارجی قالینو کښی د پښی‌نخ کاریږی دافغانستان په‌قالینو کښی داشیې بیخی نه استـعما لیږی . د افغانی قا لینو پا یښت ا و مقاومت ډیر دی .

دقالینو انواع : قالین مختلفې انواعې لری ا و ډیر ځله دهماغو ځایو په‌نومونو یادیږی چه‌هلته ئی لوڼګی لوئـی کار خانی اوتکړه تکړه‌اودونکی‌اوکارګونکی موجود وی‌دمشهورو قالینو دنومونو لنډیز په لاندی ډول‌سره دی.

۱- موری یا مروی : چه‌پخوا پخوا دمروی په علاقه کښی اودل کیدلی اواوس په‌دولت آباد دافغانستان (پخوانی‌فاریاب) کښې‌هم دمروې په‌اسلوب اودل کیږی دمروی قالینو کلك‌والی نازکی دپټ اودل اولنډوالی ئی‌چه دقالینو له‌صفاتو څخه ګڼل کیږی اوبالاخره دهغو نرمی اودرنګ ښکلا او دګلونو غوره کول‌ئی چه په‌دغو قالینو کښی کارکول کیږی په‌ټوله‌ډنیا کښی ډیر زیات شهرت لری.

۲- دولت‌آبادیې قالینی: دولت‌آبادیې قالینی لکه‌چه‌دنامه‌څخه ئی څرګندیږی دمزار شریف دولایت د دولت آباد په منطقه کښې چه داند خوی او شیرین تـګاب په منځ کښې واقـع ده

اودل کیږی اوپه اکثروصفاتواوخواصو کښې له‌مروی قالینو سره ډیر نژدیکت لری دولت آبادی قالینی په خارجی بازارونو کښې‌ښه‌چلند لری اوډیری‌غوښتل کیږی اوځینو کسانو ته دمروی له قالینو څخه لا ندی نه ښکاری .

۳ ـ قزل ایاقی : داهغه قالینی دی چه دافغانستان دشمالی خواؤ داکثرو قالینو غوندی مشهوری‌دی اوپه هغه ځای کښې چه دمزارشریف دخواجه دوکوه منطقی ته نژ دی قزل ایاقی قومونه استوګنه لری اودلی کیږی اودغه نوعه هم دتجارت دپاره ښه اهمیت لری .

٤ ـ آخچه‌ئی : اخچه ئی قالینی هم دښو قالینو په جمله کښې حسابیږی اوښایست ئی دډیرو اضلاعو دفیل پایو څخه تشکیلیږی اوهمدارنګه دقالینونور انواع هم وجود لری لکه دفرخ قالینی چه (عوام ورته کرخ وائی) اوقچریا داسی نوری لری خوپه دغو قالینو کښې زیاتره خام رنګونه په کاریږی او په همدی سبب ئی له پاسینو قالینو څخه قیمت زیات نه‌دی .

دقالین اودلومرکزونه : د دولت آباد ، اند خوی ، فرخ، قزل‌ایاق اوقرقین‌څخه‌چه‌ذکر شوو علاوه د افغانستان دشمالی‌او غربی خواؤ په ځینو نورو ځایونو کښې هم‌دقالین‌اودلو صنعت روان دی لکه هرات اوخواوشائی او مخصوصا دښرات په‌شین ډنډ کښې په پوره شمیر قالینی جوړیږی خو عمو ما منځنی اورنګونه ئی بشپړتت وی لکه تور، خر مائی او سرمه ئی اوداسی نور رنګونه اوزیاتره رنګونه‌ئی خاموی اودغه قالینی زیاتره دکورنیو احتیاجاتو دپاره په کاریږی تجارت اوباندنی اهمیت چندان نه لری ښائی وویل شی چه‌له ډیری مودی نه راپه دی خوا دافغانستان ددی خوا قالینی په خپل کیفیت او متانت کښې ډیر شهرت‌لری . په پخوانو وختو کښې‌ئی درنګ مواد له نباتاتو څخه حاصلول او اوس هم له‌نباتی موادو څخه په‌دی مورد کښې استفاده کیږی خو کاله ډومبی ځینو قالینو اودونکو درنګ خارجی مواد خصوصاً (اینلین) له‌امریکا څخه را وړ اوکارکول به‌ئی ځکه چه د هغو قیمت نسبتا کم اوکار کول ئی آسانه وه مګر ژر ترژره دا حقیقت څرګندشو چه دغه رنګونه په نظرښه نه رالحی او مرغوب نه‌دی اوچه رنګائی ووهی ډیر ژر تغیر مومی نوځکه تر تیبات ونیول شول چه دخارجی خامو اوخرابو رنګونو دراوړلو مخه و نیو له شی او دملی اقتصاد دوزارت له خوا دا سی تصمیم ونیول شو چه بی دنوموړی وزارت له اجازی څخه تاجران خارجی رنګونه نشی را وړلی اونه ئی باید راوړی او علاوه له‌دی‌ئی دفیسه‌صنائعو په مکتب کښې دقالین اودلو په نوم یوه شعبه‌پرانستله اوعلاوه له قالینو څخه په کښې خور جینې: داسو زینو نه جای نما زونه اوبالښتونه هم جوړیږی قالینی علاوه له‌دی چه په کور نیو بازارونو کښې پلورلی کیږی دباندی هم‌دپلورلو دپاره استولی کیږی اوپلورلی کیږی له‌دی کبله یوشمیرئی هند اویو شمیر ئی شمالی اوجنوبی امریکا اوهم یوشمیرئی ارو پاته استولی کیږی اوداشمیر په ۱۳۲۲ هجری کال نژدی ۷۰ زره مربع متره اوپه ۱۳۲۳کال ٢٤ زره مربع متروته ور سپده .

په‌څو وروستیو کلونو کښې دقالینو صادراتی احصائیه په لاندی ډول سره ده .

| | | |
|---|---|---|
| له سنه | ۱۳۱٦ کال‌نه تر۱۳۱۷پوری | ٤۷۱٤۰ مربع متره |
| له سنه | ۱۳۱۷ کال‌نه تر۱۳۱۸پوری | ۹۰۹۰۲٦ مربع متره |
| له سنه | ۱۳۱۸ کال‌نه تر۱۳۱۹پوری | ۷٦۲۱۲ مربع متره |
| له سنه | ۱۳۱۹ کال‌نه تر۱۳۲۰پوری | ۲۷٤۲۰ مربع متره |
| له سنه | ۱۳۲۰ کال‌نه تر۱۳۲۱پوری | ۲٥۲۹٥ مربع متره |
| له سنه | ۱۳۲۱ کال‌نه تر۱۳۲۲ | ٤٤۱۲۳ مربع متره |
| په سنه | ۱۳۲۲ کښې . . . | ۷۲٥۲۹ مربع متره |
| په سنه | ۱۳۲۳ کښې . . . | ۷۰٤۷٥ مربع متره |
| په سنه | ۱۳۲٤ کښې . . . | ۹۹۷۸۲ مربع متره |
| په سنه | ۱۳۲٥ کښې . . . | ٥۳۹٥٦ مربع متره |
| په سنه | ۱۳۲٦ کښې . . . | ۳۰۲۱۷ مربع متره |
| په سنه | ۱۳۲۷ کښې . . . | ٤۱۲٥٦ مربع متره |
| په سنه | ۱۳۲۸ کښې . . . | ۸٦۲۱۸ مربع متره |

تغږ : دوطن له‌عامو مفروشاتو څخه‌دی‌اود وطن په‌بیلوبیلو ځایو کښې بیاپه تیره هزاره جات، قطغن مزارشریف، میمنه اوهرات کښې جو ړیږی دتغر دپاره ډو مبی ځل سنې ښې کلکی تاو اوبیا ئې، رنګ کړی او وروسته له‌دی ئی بیاد قالینو غوندی دلرګو په تنسته اوبی دتغرو د او دلو بهتر ین مرکزونه غزنی یکاولنګ ، دهرات شین ډنډ «سبز وار» ، دایزنګی ،مالستان،بهسود، جاغوری، میمنه، قطغن او داسی‌نور ځایونه دی دهزاره جات تغرونه وړکوتی تینګ او دوام دار دی‌مګر دغزنی دعلاقې تغر ډیر ښکلی اوښه‌رنګ‌لری په‌شمالی ولایاتو کښې تغرونه د هندسی اشکالو په ډول ځلور خا نیز، لوزی او داسی نور په‌بیلو بیلو رنګو اوبی او مخصوصاً یوه نوعه‌ئی په‌دی برخه کښې اودل کیږی چه کاغه ورته وایه شی ددی ډوعی تغرو تارونه بیخی صاف ، کلک او په خپله تغرهم ډیرنازک خوپه‌عین حال کښې ډیرکلک اوتینګ اوښه رنګی‌وی ډیره‌بیه(قیمت) لری اویوه بله‌نوعه ئی دقاشقاری په‌نوم شهرت لری‌چه‌هغه‌ډیر ښکلی اوښائسته دی دتغرونو صادرات په‌هند ، اروپا اوامریکا کښې په‌څو وروستنیو کلونو کښې‌په‌لاندی‌ډول سره‌دی .

| | | |
|---|---|---|
| له ۱۳۱٦ سنی‌نه‌تر | ۱۳۱۷سنی پوری | ۱۷٦٥۸ مربع متره |
| له ۱۳۱۷ سنی څخه‌تر | ۱۳۱۸سنی پوری | ۷۳۷ مربع متره |
| له ۱۳۱۸ سنی څخه‌تر | ۱۳۱۹ سنی‌پوری | ۳٤٦ مربع متره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| له ۱۳۱۹ سنی څخه تر | ۱۳۲۰ سنی پوری | ۲۲٤ | مربع متره |
| له ۱۳۲۱ سنی څخه تر | ۱۳۲۲ سنی پوری | ۳۵۲۳ | مربع متره |
| په سنه ۱۳۲۲ کښی | ... | ۲۷۸ | مربع متره |
| په سنه ۱۳۲۳ کښی | ... | ۲۱۰ | مربع متره |
| په سنه ۱۳۲٤ کښی | ... | | |
| په سنه ۱۳۲۵ کښی | ... | ۲۸۲ | مربع متره |
| په سنه ۱۳۲٦ کښی | ... | ۲۵ | مربع متره |
| په سنه ۱۳۲۷ کښی | ... | ۱۲۵ | مربع متره |
| په سنه ۱۳۲۸ کښی | ... | ۱۱۵۲۰ | مربع متره |

لمڅی: لمڅی په افغانستان کښی په درې ډوله دی یو ډول کرکی لمڅی یا کرك چه په هرات کښی جوړیږی دوهم ډول کوسی دی چه په سیستان (فراه) پشت رود او قندهار کښی جوړ یږی او نور عادی لمڅی دی چه دوطن په مختلفو ځایو کښی اینبودل کیږی (جوړیږی) لمڅی عموماً له وړیو څخه جوړوی دجوړولو تر تیب ئی دوړیو له مینلو او تینګولو څخه عبارت دی چه دمټو په زور سره ئی مینی د کرك لمڅی له ټولو لمڅیو څخه کلك دی، خو په عین حال کښی بار یکه (نازك) هم دی چه په مخونو باندی ئی درنګ شویو وړیو ګلونه لګوی ، نقوش او حتی د وړیو نوشتی پری جوړوی د هرات د کرك لمڅی ډیر شهرت لری اوډیر پایښت لری د کوسی معمولی لمڅیو بهترین انواع په قند هار او قلات کښې جوړیږی د مرکز په پاسنیو سطحه کښې وګړی عادی لمڅی دخپلو مفروشاتو دپاره جوړوی اوهغه لمڅی چه په ننګر هار (مشرقی) کښی جوړ یږی زیا تره ئی داوښانو له وړیو څخه وی .

داغوستلو صنائع : د نولسمی پیړۍ تر منځنو کلو پورې دافغا نستان د وګړو ټو ل اغو ستن کالی د وطنی له ټکرانو څخه ؤ اودغو صنائعو ډیر ښه رونق درلود او دلاسی صنا ئعو په براخ والی کښی ئی پوره کومك کولو خو څرنګه چه وروسته له دې تجا رتی روابطو له نورو ممالکو سره پر اختیا ومیند له نوځکه ئی خارجی ټکران دتنه هیواد ته راوړل اوله دی کبله چه په بیه ښه او ارزان تمامیدل نوځکه ئی ښه رنګ او بهتر نمایش درلود همدا وجه وه چه خلك اووګړی ئی استعمالولو ته زیات متمایل شول اودوطنی ټکرانو یوه زیاته برخه دباندی (خارج) ته هم استول ګیدله خو هرکله چه خارجی ټکران له پوی خوا په بیه ارزانه وی اوله بلی خوا نه دفابریکو په ذریعه ډیر مقدر پیدا کیدلی شی نو ځکه زمونږ دهیواد نیو ټکرانو ځای په ورو ورو خارجی ټکرانو و نیو او دهغو په مقا بل کښی ئی مقاومت ونه کړی شو خوسره له دی هم ځینی انواع ئی تر اوسه پوری ډیر اهمیت لری ،یعنی په دتنه هیواد او د باندی هیواد کښی ښه تود بازار لری چه د هغو مشهوری ټکری په لاندی ډول سره دی .

کاغمه : کاغمه دمملکت د بهتر ینو پشمی ټکرو څخه ګڼل کیږی اوکاغمه په هرات ،اقچه، شبرغان، خلم او بهترینه نوعه ئی دسمنګانو په خلم کښی جوړیږی اوډیری ښکلی او ښایسته دی او وړی ئی داغوستن دپاره ډیرغوره دی :

په اودلو کښی ئی دوړیو ډیر نری اوښه مر غلین تارونه په کار لو یږی د کاغمی جوړښت په داسی تر تیب سره کیږی چه په اغوستلو سره ئی بدن دسوړوالی اوخوښیږ احساس کوی کاغمه په بیلو بیلو رنګونو سور ، سپین لیمونی ، شکری او شیرچائی اوځینی ځینی ئی په تورنګ هم اوبی ، کاغمه له زېږو اودوزو له مخصوصو وړیو (وزغنو) اوسنیو څخه اودل کیږی

کرك : لکه چه دلمڅو په مو ر د کښی مو وو یل د کرك مهم مرکز هرات اودهغه ولایت خواؤ شا ځایونه دی چه دلته دوړیو له پت څخه یعنی له هغو نرمو ، اونازکو وړیو ځنی اودل کیږی چه تروزغنولنډی وی ، کرك ډیر ښکلی او نفیس ټکر جه دزمی له بهترینو پوشاکو څخه ګڼل کیږی پوست والی او پایښت ئی دستابلو وړدی یو نازك قسم ئی بشرویه نومیږی چه ډیر نفاست لری چه له اصل کرك نه هم نازك اومهم دی دشمال شرقی خوا په غرنیو برخو یعنی دنورستان اود هغه په خواو شاځایو کښی هم داوښانو دپټ لرونګووړیو اود کوهدامن په استالف کښی دوزوله وزغنو اوداسی نورو نرمو پتوڅخه ډیراعلی ټکران اوبی په دی وختو کښی په هرات کښی د کرك چارخانه ئی ټکران په طبعی رنګونو سره اوبی چه دزمی داغوستنی دپاره ډیر مناسب اووړتیا لری .

برکه: برکه چه په هزاره جات کښی زیاتره اودله کیږی دافغانستان دسړو منطقو له معمولی اغوستن څخه یوه جامه ده له همدی کبله تقریبا دهیواد په اکثر و برخو کښی اودله کیږی برکه دحیواناتو مخصوصاً وړیو له عادی وړیو څخه جوړیږی اودبرکی خواص په هره منطقه اوهرځای کښی سره توپیر کوی مګر بهترینه برکه په دایزنګی بیسودواوجاغوریو کښی جوړیږی مګر په غرنی اودمملکت په شمالی خواو کښی هم برکه جوړیږی برکه کله دسربسته ټوکو (توپونو) په صورت اوکله دتورو سپینو ، نصواری اوچارخانو شړیو (کمپلها) په شکل جوړیږی په دایزنګی اوبیسودو کښی شیرچائی اوسپینې په جاغوریو کښی چارخانه اوپه پنجشیر اودمملکت په شمالی برخو کښی زیاتره توری برکی جوړوی .

پټو : له هغه نازك او نفیس څادرڅخه عبارت دی چه دتنه په هیواد اودباندی ملکو کښی ډیرشهرت لری دپټو مهم مرکز

کابل‌دی چه په‌دی ځای کښی لومړی‌پټورپسی، اوبیائی پاک کړی اووروسته ئی بیا په‌مخصوصوملی کارخانو کښی اوبی په جلال کوټ (جلال آباد) کښی‌هم پټوگان اوبی‌له‌دغوپاس ذکرشوی‌و پشمی‌ټکرانوځخه ماسوا نورپشمی ټکران‌هم دمملکت په بیلو بیلوځایو کښی جوړیږی چه‌دهماغه‌ځای له‌عمومی شرطونو سره برابر دهماغو ځایودمحلی‌احتیاجاتو دپوره کولودپاره جوړیږی لکه روی‌جائی جرابی، دستکش ،پای‌پیچی چه‌په هزاره جات کښی جوړیږی قندهاری او هراتی کوسی د غور بند او د منگلو،ځانځیو اونورو ځایو چکمنی دا لباس خورابنه او په خامك دوزی‌ر سینگارپږی .

و ر ینمین کالی : له‌دی کبله چه توتان د مملکت په‌اکثرو خواؤ کښی (بی‌دهزاره‌جات اوافغانی پامیراتو له سړو ځایونه) ښه‌شنه کیږی نوځکه دوریښمو دچینجیو تر بیه هم دمملکت په‌اکثرو ځایو کښی لکه (کابل،هرات ، قطغن دمزارشریف ولایت ننگرهار (مشرقی) کیدای‌شی او په‌قطغن مزار شریف خصوصا هرات کښی دوریښمو ، د چینجیو روزل په‌کافی اندازه رواج لری اوهغه ورپښم چه‌خلك‌ئی تری اخلی په‌وریښمینوټکرانو بدلیږی‌په‌هرات کښی‌هرکال د(۶۰۰۰-۸۰۰۰) توکران اوپه قطغن کښی (۱۵۰۰ تر۲۰۰۰) او دمزار شریف په ولایت کښی د(۱۰۰۰) توکرانو په حدودود کښی دچینجیانو هگیر دروزنی لاندی نیولی کیږی مشهور خیزونه چه‌له وریښموئی‌جوړوی شمندروز (قناویز) نرمه ، دستمال، لنگیر اوداسی نوردی شمندروز (قناویز) اونرمه دافغانستان دوریښمو بهترین‌توکران گڼل کیږی چه دباندنیو د پخوانیو سنډی او بسکی اوسنیو دستمالونو اولونگیو سره برابری کوی بهترین شمندروز اونرمه په‌هرات کښی‌اودله کیږی اویوه‌برخه ئی‌دباندی هم استوله کیږی تقریباً د کورنیو دتولو اړتیاؤ دپاره بستیا کولی‌شی پرته له‌دی دجلال کوټ او شمالی ولایت په ځینو ځایو کښی دوریښمو ډیری ښکلی‌توتی او دلی کیږی چه‌دغه وروستنیر برخه په شمالی ولایتونو (قطغن ، میمنه مزار شریف) کښی دالچی په‌نامه یادوی او ډیری ښی ئی په فرخار اوچایاب کښی جوړ وی وریښمینی لو نگیر دافغانستان دنفیسواودل شویوټکرانو څخه‌دی چه په‌جلال کوټ اوخواؤشاکښی ئی اودل کیږی اودپلو دارولو نگیو په نوم یادیږی یاسور غاړی اوشین غاړی لنگیر ور ته‌وایه شی .

دپنبی کالی : دپنبی کښت له‌کابل غزنی ، هزاره جات اوبدخشان نه‌غیرنوردافغانستان په‌ټولو سیمو کښی په ښه ډول سره مروج دی نوبنا په‌دی پنبه دمملکت دکر هنی دمهمو محصولاتو څخه ده‌چه یوالخی په قطغن کښی ئی کالنی حاصلات له (۲۰،۰۰۰،۰۰۰ تر۳۰،۰۰۰،۰۰۰) منو پوری ر سیږی اوپه اکثرو ځایو کښی ورڅخه پنبه‌ئی اونخی و طنی توتی اوبی چه مشهو ری ئی خا متا ، تسر نخی کشمیره ، الچه اوداسی نوردی .

خامتادپنبی له‌هغوتارونوڅخه‌اودله کیږی چه په‌خپله وگړی‌ئی د وطن د لا سی آلاتو په ذریعه ورښی او په مخصوصو محلی کارخانو کښی ئی جوړوی رنگ ئی سپین خو کله کله‌نیلی‌هم وی اودوطنی‌سان غونډی‌کارورکوی‌نخی کشمیره‌دجبل‌السراجو په نوم هم شهرت لری چه له‌خامتا څخه څه ناڅه ښکلی د ه د دوی د را غونډ یدود (تمرکز) ځای د کابل شمالی سمت دی چه هلته ئی زیات خلك‌د خپلی بډائی (زمینداری) اوباغوانی په و خت کښی اودل غوره کوی . دغه ټوتی ډیری کلکی وی چه ډیرښه رنگ هم لری او دهیوادنی ور ښل شوی نخ څخه جوړیږی علاوه له دی خامتائی کپشونه او متعددی پنبه ئی ټوتی‌هم د مملکت په مختلفو خواؤ کښی او دلی کیږی او دوگړو داغوستلو په خرڅ (مصرف) رسیږی‌خوکوم شی‌چه دلته زیاتره دیادونی وړدی هغه د پل خمری د نساجی‌فابریکی ټکران‌دی چه عیناً د خارجی ټکرانو غونډی دی داټگران‌سپین شیرچا ئې ، قهوه‌ئی‌اوداسی‌نورر نگونه‌لری‌اوپه برابره‌بیه سره دوگړولاس‌ته‌ورتللی‌شی . د فابریکی‌مصرف دقطغن د کرل شوی پنبی څخه‌دی‌چه ښه‌جنسیت‌لری او دتاراوزد والی ئی(۳۰) میلمتر دی د مملکت د نخی او دلو لویه فابریکه همدا اوس دپلخمری‌فابریکه‌ده ددی فابریکی‌تاسیس‌د عمومی‌جگړی‌نه‌پرومبی په ۱۳۱۵ کښی‌د ۱۳۲۰ کال‌دمیزان په لسمه نیټه‌ئی په کارپیل‌وکړ د ډومنی‌ځل‌دپاره‌ئی (۱۵) زره ماکوگان په کار ولویدل‌او اوس‌ئی د(۵۵۰) دستگاوله جملی څخه ۳۲۰ دستگاوی په‌کارکولولکیا دی او هره ورځ له (۷) نه تر ۱۰ زره گزوپوری خاکی او د ۳۰۰ بنډلونو په اندازه سانی تکی اوبی کله چه ټوله دستگاه په‌کار واچو له شی په هر یوه ورځ به د ۸ ساعتونو دکار کولو څخه وروسته ۲۴ زره گزه ټکران‌له دی فابریکی څخه لاس ته راو یستلی شی . دنخی اودلو بله فابریکه‌دجبل‌السراج‌فابریکه ده چه د هغی و جود او لس‌او په تیره‌بیا د کابل د وگړیو د ضرور یاتو د پوره کولو د پاره ښه کومک کوی او روزانه (۱۵۰۰) متره توکران‌ور څخه لاس ته راوستلای شی سره له دی چه د فابریکی د کار کولودلوازمو برابرول،ډیر مشکلات لری لکه دگړ ندیو کار کونکور نگی موادو تیلوپیدا کول او داسی نور . دا فابریکه د مملکت د عسکری افرادو دپاره په زیات مقدار توکربرابر وی د جبل‌السراج‌د فابریکی محصول په ۱۳۲۴ او ۱۳۲۹ کال کښی په لاندی ډول سره دی :

| | | |
|---|---|---|
| الف ـ اتوماتیکی دستگاه وې | ۳٤٥۹۹ | متره |
| ب ـ لاسی دستگاه وې | ۹۳٦ | متره |
| ج ـ شړی او میز پوښو نه | ٦۸ | متره |
| د ـ پنبه ئی توکې | ٥۱٦۸ | کیلوګرام |
| په ۱۳۲۹ کال کښی ماشینی توتی | ٤۰۸۰٦۷٥ | متره |
| لاسی پارچه باب | ٤٦۸۷۹ | متره |
| شادرونه اوروجائی | ۲۰٦ | تختی |
| نخ | ۱۰۰ | کیلوګرام |

پشمی ماشینی توکران : پشمی توکران په دووفابریکو کښی جوړیږی چه یوه دکابل ماشین خانه او بله دقندهار دوړیو اودلو فابریکه ده هغه پشمی کشمیرې چه په دغو فابریکو کښی جوړیږی که څه هم کلکی دی خو دکلك والی او ټینګوالی له حیثه د باند نیو پشمی توکرانو سره مقابله نشی کولای مګر سره له دی هم دوګړو دنیمګړتیاؤ دپوره کولو دپاره ښه وړ خدمت کوی .

دکابل د ماشین خانی محصول چه ډیره پخوانی ده د ۱۳۲۹ کال دجدی په میاشت کښی په لاندی ډول سره ده .

| | | |
|---|---|---|
| سرج | ٦،٥۳٤ | متره |
| کشمیره | ۲،۰۲۷ | متره |

په ۱۳۲۹ کښې :

| | | |
|---|---|---|
| توکر | ۱۳٥،۹٦۱ | متره |
| شړی (کمپلی) | ۲۱۸ | تختی |

دقندهار دوړیو اودلو دفابریکی محصول په ۱۳۲۳ کښی :

| | | |
|---|---|---|
| سرج او کشمیره | ٥٦،۰۰۰ | متره |
| روجائی | ۱،٤۸۰ | تختی |
| شړی | ۱،۲۳۲ | تختی |
| دغاړی مخصوص دسمالونه (مفلر) | ۸۸۲ | دانی |
| دکمبسونو او نورو توکرانو تارونه (هون) | ۷۷۰۰۰ | کیلو |

له پورتنیو ارقامو څخه څرګندیږی چه دغه فابریکی که څه هم دوګړو دغوښتنو اړتیاؤ اونیمګړتیا ؤ دپوره کولو دپاره بستیانه کوی مګر بیا هم کولی شی چه دوګړو اړتیاؤ یوه غوره برخه پوره او تامین کاندی د نو موړو فابریکو کالنی محصول دمثال په توګه په لاندی ډول سره ده ډیل خمری داودلو نساجی فابریکی محصول په ۱۳۲۳ کال کښی .

| | | |
|---|---|---|
| توکر | ٤،۰۰۰،۰۰۰ | متره |
| تار | ۷۷،۸۰۳ | بنډلونه |

د ۱۳۲۹ کال محصول

| | | |
|---|---|---|
| توکر | ۸،۲۳۰،۰۹۸ | متره |
| نخ | ٤۷٥ | بنډلونه |

دجبل السراج داودلو فابریکی محصول په ۱۳۲۳ کال کښی

| | | |
|---|---|---|
| توکر | ۳۳٦،۰۰۰ | متره |
| دکابل دماشین خانی محصول په ۱۳۲۳ کال کښې . | | |
| وړین توکر | ۱۸۰،۰۰۰ | متره |
| دقندهار دوړیو اودلو دفابریکی محصول په ۱۳۲۳ کال کښی | | |
| وړین توکر | ٥٦،۰۰۰ | متره |
| دقندهار دفابریکی د ۱۳۲۳ کال محصول | | |
| وړین تار | ۷۷،۰۰۰ | کیلوګرامه |

دپوستینو نو ګنډل (پوستین دوزی): دافغانستان پوستینونه دوریو له پوستکو څخه جوړیږی چه د وکړو د ژمی داغوستن دپاره په کار کیږی پوستینونه دافغانستان دوګړیو دمخصوصو اوملی بڼکلو پوښاکو څخه ګنډل کیږی چه زیړ، لیموئی رنګونه لری اوسره او نارنجی ګلان په کښی اچول کیږی او د خلکو ستر ګی پری خوږیږی حتی چه ځینی دباندنی کسان ئی دډول په توګه اغوندی. ډیر ښه اوغوره پوستینونه په غزنی کښی جوړیږی اودغلځیو اوکاکړیو پسونو ډیر ښه ئی د بڼکلا او رونق په ښه کولو اوزیاتولو کښې پوره برخه او اغیزه لری .

دکابل په ښار، چاریکارواواستالف کښې هم دپوستینو جوړول رواج لری دپوستینو دجوړولو طریقه دا سی ده چه لومړی پوستکوته خور (آش) اورنګ ورکوی چه په دی حصه کښې زیاتره دانارو دپوتکو له رنګ څخه کاراخستل کیږی وروسته له دی ئی منبی څوچه ښه پاسته اونرم شی پس له هغه ئی سکټی (برش کوی ئی) اوبیا پوستین ورڅخه جوړوی په وروستنیو کلونو کښی ئی دباندی ملکوته هم استول او علاوه دپسو له پوستکو څخه دنوروحیواناتو له پوستکو څخه هم ښه ښه پوستینونه جوړوی (لکه دخز، خپك، ګیدړۍ، سمور، الثای، قاقم پوستکی) چه ددی څیزونو پوستکی په اسانۍ سره ډیر پیدا کیږی .

دپوستینونو اوپوستینچوصادرات په ۱۳۲۱ کال کښی د (۲۲،٤٥) شمیر حدودوته رسیږی اوداشمیرئی د صادراتو داصلی اوعادی کالنی شمیر په نسبت تیټ دی ځکه چه په ۱۳۲۱ ددی تجارتی قلم په صادراتو کښې دنړی دجګړی په سبب کموالی راغلی ؤ

دلرګیو صنعت (چوب کاری) : دلرګیو صنعت پخوا په افغانستان کښې ښایسته ښه ترقی اوپرمخ تګ درلوداومخصوصا لکه چه تردی وروستیو وختو پوری هم دلرګیو دجوړولو دصنعت ګل کاری اورنګ ورکول ئی تراوسه پوری دمملکت په بیلوبیلو ځایو کښی پاتی دی او کومی نښی (آثار) ئی چه له دی ځایو څخه لاس ته راتلای شی هغه په ربښتیا سره تر ډیرو ستایلو وړدی له دی جملی څخه په کابل اوغزنی اولبز لبز په هرات کښی هم دلرګیو دپنجرك (شبکه کاری) جوړولو صنعت پاتی اوموجوددی اومخصوصا په غزنی اوجلال کوټ کښی دلرګیو رنګ کول په ډیر ښکلی او ښایسته صورت سره کیږی لکه

چه اساګانی اونور کورنی سامانونه چه‌په غزنی اوګټو نه چه په جلال کوټ کښی جوړیږی نه شهرت لری په‌کابل کښی چه اوس دودانیو عصری فن ترقی اوپرمخ تګ کړی‌دی دلرګیوصنعت لکه دچټونو دمسطح کاری دمیزونو او څوکیو اوداسی نورو څیزونو جوړول چه نه پرمخ تګ ئی کړی دی دکابل دصنائعو په‌نښوونځی کښې‌هم‌دنجاری‌په‌نوم‌یوشق‌موجوددی چه یوشمیر شاګردان په‌کښی دلرګیودجوړولو دصنعت زدکړه کوی دکابل‌دحجاری‌او نجاری‌ فابریکه چه‌یوه مهمه‌فابریکه ده هرکال‌په کښی یوزیات‌شمیر (فرنیچر) (سامان) او داسی نور ښایسته شیان په‌لوړ اوښه صورت سره جوړیږی .

کلالی او کاشی ګری : څرنګه چه‌په‌نورو مملکتونو کښی

کلالی له پخوانیو اوزړو صنعتونو څخه‌ده‌په‌دی‌مملکت کښی‌هم پخوانی ګټل کیږی‌اوبدې‌مملکت کی‌قدامت‌لری‌اوترا‌اوسه پوری دډیروتغیراتو سره چه دوګړو دافتیاؤ اودوختونو داقتضا آ تو څخه پیدا کیږی، رواج‌لری دمملکت‌په بیلوبیلوځایو کښی کاسی ګړی، کټوی اوداسی نور خاورین لوښی له مټینی خاوری (ګل‌رس)څخه‌جوړیږی‌اوهمدارنګه‌ئی دسربرغولی (سرپوښونه) په بیلوبیلو آبی، زیړو اوشنو رنګونو سره جوړیږی لکه چه استالفی‌ کاسی قندهاری اولغمانی لوښی ډیر شهرت لری په پخوانو وختو کښی دپخو څښتو جوړولو ډیرروا‌ج درلود چه نښی ئی په‌زیارتونو جوماتونو اوزړو ودانیو کښی ډیری لیدلی کیږی اوددغه رنګ څښتونښی (آثار) په هرات غزنی اوبلخ کښی چه آبادی‌ ئی ډیری زړی او پخوانی‌ دی ډیری لیدلی کیږی په دی وروستیو شپو ورځو کښی یوه وړه فابریکه په قندوز کښی دچینی لوښو دجوړولو دپاره درول شوی ده چه کاسی، پیالی، سګرټ دانی‌ او ښکلی ښکلی سړو بی (صراحی) په کښی جوړیږی چه وګړوته په برابره اوښه بیه لاس ته ورتللی شی .

په افغانستان کښی دصنعتونوپراختیا : لاسی ښکلی صنعتونه

چه په پخوانیو وختو کښی ښه رونق او پراختیا لرله او دافغانستان په زړو اوپخوانیو ښارونو کښی ئی لکه هرات، غزنی اوقندهار نښی اوآثار لیدل کیږی چه دبیلو بیلو عواملو په اثرلکه دمغلیانوداړو دورو اودوګړو دپریشانی‌ اوصنائعو ته بی پامی (بی‌توجهی)ده کرار کرار (تدریجا) له منځه‌لاړ اوله هغو زړو اوپخوانیو بدائعو څخه نن بی له نښو څخه ئی بل څه‌نه لیدل کیږی . خو وروسته یو څه نهضت پری راغلو دصنعتونو خاوندانو دخپلو صنائعو په پراختیا کښی ډیر کوښښ او جدیت وکړ لکه چه یوڅه ضروری لوازم ئی دفابریکو اوصناعتی ټولنو (موسسو) په کومك په خپله هیواد کښی برابرینی په افغانستان کښی صناعتی‌مهمی فابریکی په لاندی ډول سره دی :

۱ - دپلخمری داودلو (نساجی) فابریکه چه‌مخکښی ورته اشاره وشوه . په‌دی فابریکه کښی پنځلس ماکو ګان په کار اچول شوی‌دی اوله (۵۵۰) دستګاؤ څخه ئی (۳۲۰) په کار لویدلی‌دی چه‌په یوه ورځ کښی (۱۰،۰۰۰) ګزه ټو کړ او ۷۰۰ بنډ لونه وربنډل شوی تارونه تری‌را ؤ ځی اوس ترتیبات نیول شوی دی چه ټولی دستګاهی ئی په‌کار و لویږی چه دورځنی داته ساعته کارله مخی ئی ګټه (محصول) (۲٤) زره متر و ته ور سیږی دپلخمری داو دلو د فابریکی تاسیس چه‌له ۱۳۱۵ څخه‌شروع شوی اوددوهم عمومی‌جنګ له‌مشکلاتو سره ئی د۱۳۲۱ دعقرب په میاشت کښې په کار پیل کړی دی د جنګ له کلونو څخه وروسته چه نړۍ په سختیواو مشکلاتواخته‌وه اودباندینو متاع ګانو راوړل‌سخت‌وه دوګړو دنیمګړتیاؤ اوافتیا ویوه مهمه‌یرخه‌ئی پوره کړی‌ اود باندینو نښی ټوټو اوبیا په‌تیره دسان اوململ بحران ئی کم کړ په‌شمالی ولایتو اود افغانستان په‌نورو سیمو کښی د فابریکی ګڼی (محصولات) وخت‌په‌وخت دخلکو داستفادی د پاره ورته په‌مخکښی کیښودل‌شوی‌سان‌اوململ چه‌له باندینو ملکونو څخه په کمه‌اندازه راوړل کیدل‌نو دکموالی جبیره‌ئی دپلخمری دفابریکی په‌محصول دسپین سان‌سره وشوه‌اودې‌ئی‌لځای‌ونیولو اودمملکت خلك اوبیا هغه کسان ئی دخارجی تکرانو له‌افتیا څخه بی‌پروا کړل چه هغو دسپین سان اغوستن ته ډ پره افتیا لرله.دپلخمری داودلو دفابریکی محصولات‌په‌دوو لحاظو داهمیت وړدی : یود فابریکی اودل شوی شیان او بل‌ئی دنخ محصول چه د لاسی او دونکو دپاره دنخ بهترین محصولات برابروی لکه چه‌دخپلو ټوټو داودلو له‌لګښت نه علاوه په‌کال ګټی نژدی (تخمینا) دلاسی اودل‌شویونښی ټوټو دپاره دخلور ملیونو مترو په‌اندازه‌نخ برابروی اوهم‌دخپل‌لس ساعته‌ورځنی کار داودلو دشق دپاره نخ‌برابروی چه‌د فابریکی دسان اوململ محصولات په۱۳۲۲ کال کښی د(۱،٦۷۲،۸۷۲) مترو په‌خواوشا کښی اوله۱۳۲۳ کال نه‌د(۳،۵٦،۱۵۰) مترونو په‌خواوشا اوله ۱۳۲۸ نه‌د ( ۸،۵٦۵،۸۵۰ ) مترو اوله۱۳۲۹ نه‌د (۸،٦۸٦،۱۵۰) مترو ته‌رسیږی اودامقدار یواځی (٤۸۰) دستګاوی اود۱۵زرو ماکوګانو محصول‌دی. مګردفابریکی داصلی کارمعیار په‌صنعتی پروژه کښې‌داود لو دماشینو (۵۵۰) دست ګاوی ټاکل شوی‌وی‌چه‌په‌دی ورستیووختو کښې هغه‌هم‌په کار اچول‌شویدی .

دجبل السراج فابریکه: دجبل‌السراج دفابریکی‌اودل‌شوی‌شیان

مختلف‌دی کوره‌سان، رنګه‌سان، جیم،تسر،چارخانه، ګامسکوټ لیکی لرونکی(راداری) کشمیری،دلاس‌دسمالونه،میزپوښونه او داسی نور په‌دی فابریکه کښی جوړ یږی او اودل کیږی . د

جبل‌السراج دفابریکی جیم چه‌ښه ټینګ او کلك جوړ شوی د باندنیو ښو اوبهترینوجیمونوسره سیالی‌اوبرابری کولای‌شی دجبل السراج دفابریکی پیداوار په څو کلونو کښی‌په‌لاندی ډول سره دی :

| | | |
|---|---|---|
| په ۱۳۲۰ کال کښی | ۳٤۹،۰۵۹ | متره |
| په ۱۳۲۱ کال کښی | ۳۸۲،۹۹۰ | متره |
| په ۱۳۲۳ کال کښی | ۳۳۲،۲۰۸ | متره |
| په ۱۳۲۹ کال کښی | ٤۰۸،٦۷٤،۸۵ | متره |

لاسی اودل‌شوی ټوټی ٤٦،۸۷۸متره ځادرونه اوروجائی گانی ۲۰٦ تختې دی .

دکابل ماشین‌خانه: ددی ماشینخانی‌چه‌ډیره زړه‌اوله‌موده لویدلی ده کارئی دوړیو اودل‌دی . ددی فابریکی اودل شوی شیان دتاسیس له‌وخت‌نه‌ډیر ښایسته‌اونفیس‌دی اود پشمی ټوټوقسمونه ئی (فاین ، کورس ، میدیم ) له‌وړیو څخه جوړ یږی دکابل د ماشینخانی اودل‌شوی پشمی‌شیان کال‌په کال مخ په زیاتید ودی او د ټو ټو انواع ئی لکه گل سنګ ، چار خانه لیکی لرونکی ( رهبار) ، خنجری ټوټی په لاسې دستگاؤ او ماشین سره اودل کیږی . څر نگه چه‌پخوانی ماشینونه‌ئی‌زاړه شوی‌وه په ۱۳۱۹ کال‌کښی نو موډی فابریکه دملی اقتصاد دوزارت په‌تصویب‌سره دملی فابریکی‌جزء وبلله شوه اواقتصاد په‌سهامی شرکت‌پوری وترله شوه - نو په ۱۳۲۳ کال کښی د شرکت‌له خوا ځلوینت پایی نوی ماشینونه ودرول‌شول‌اود فابریکی په‌پیدا وارو اوتولیداتو کښی دستایلو وړ زیاتوالی راغلی‌دی . دفابریکی پشمی اودل شوی شیان دځو کلونو په موده کښی په لاندی ډول سره‌دی .

| | | |
|---|---|---|
| په ۱۳۲۰ کال کښی | ۱۰۱،۵۰۹ | متره |
| په ۱۳۲۱ کال کښی | ۱٦۵،۵۱۲ | متره |
| په ۱۳۲۲ کال کښی | ۱٦۸،۷٤۲ | متره |
| په ۱۳۲۳ کال کښی | ۱٦۰،۰۰۰ | متره |
| په ۱۳۲۹ کال کښی | ۱۷۵،۹٦۱ | متره |

دقندها دوړینو اودلو فابریکه : دمملکت نور په ماشین اودل شوی‌پشمی‌شیان دقندهار دفابریکی‌له‌محصولاتو څخه‌دی‌نوموړی فابریکه‌رنگارنگ ماشینونه‌لری‌اودوطن په‌شرکت پوری تړلی ده اود ۱۳۳۲ دجوزا په‌میاشت کښی دافابریکه پکارواچوله‌شوه ددی فابریکی ښه‌اونفیس اودل شوی‌شیان دبالاپوښ د کشمیرو ددریشیو د وړینوټوټواوروجائی گانو څخه‌عبارت‌دی . رنگونه ئی ډول ډول دی‌اواودل‌ئی ساده . خنجری ، رادار ، گل‌سنگ چنگه‌دار پلشتی اوداسی نور دی .

دی‌فابریکی هم دنورو ملی فابریکو په‌څیر داروپا د جنگ به دوره کښی دوطن داقتصاد دپاره پوره خدمت وکړ او اوس‌هم په‌برابره‌یه ددی‌فابریکی‌پشمی محصولات په خصوصی‌دوکانونو کښی‌دخلکو دپلورلو دپاره اینبودل کیږی او ټوټی‌ئی په‌تیره بیا دژمی ټوټی ئی دخلکو دنیمگړتیاؤ دپوره کولو دپاره‌ډیره مرسته اوکومك کوی ددی فابریکی پیداوار په۱۳۲۹ کال کښی په‌لاندی ډول سره‌دی .

| | |
|---|---|
| کشمیره هرډول | ۲٤،۷٦٦ متره |
| کمبلی | ۱،٤٦۸ تختی |
| شړۍ اوشالونه | ۸،۰۵۳ تختی |
| رنگه نخ اوسنۍ | ۷٤،۰٤۳ منه دکابل په‌من |

دگوگړو دجړولوفابریکه : دگوگړودجوړولو فابریکه کابل ته‌نژدی‌په‌دارالامان کښی‌ده چه‌دمملکت‌ځینی نیمگړتیاوی پوره کوی ، په‌دی فابریکه کښی دگوگړو د لرگیو اودبلیو دجوړولو اوداسی نورو لواز مو د پاره مخصوصی دستگاوی شته اود اورلگیتولرگی‌ئی دخواو شاکلیواوداولس‌له‌سپیدارونو څخه برابریږی‌په۱۳۲۲ کال‌کښی دگوگړو دجوړولو محصول د(۱،۱۸٤،۰٦٦ )درجنوته نژدی ورسید چه‌په‌هردرجن کښی دولس ډبلی اینبودل شوی وی مگر د ۱۳۲۳ه کال محصول‌ئی (۱،۱۷٦،۳٤۳) درجنه شوی دنورو کلونومحصولات ئی هم‌په همدی اندازه کښی دی .

دقندوز دچینی جوړولو فابریکه : په‌قندوز کښی وړ کوټې فابریکه د چینی جوړ ولو د پاره شته چه پیالی ، بشقابونه غوری ، سگرت دانۍ او داسی نور شیان په کښی جوړیږی اوپه‌برابره بیه‌دوگړو لاس‌ته ورتللی‌شی.ددی فابریکی‌محصول د ۱۳۲۳ کال دحوت او حمل په میاشت کښی دمثال په ډول په لاندی ډول‌سره دی .

د۱۳۲۳ کال دحوت په میاشت کښی :

| | |
|---|---|
| پیالی | ۲،۵٦۷ دانی |
| ښی پیالی | ۲،٦۷٤ دانی |
| دسابو لوښی | ۱۰۷۱۹ دانی |

د۱۳۲٤ کال‌دحمل په‌میاشت کښی :

| | |
|---|---|
| پیالی | ۱،٦۸۰ دانی |
| ښی پیالی | ۱،۵۱٤ دانی |
| دسبو لوښی | ۹۱٤ دانی |
| بشقابونو | ۱،۷۷۷ دانی |

څر نگه چه لیدل کیږی دقند وز دچینی‌جوړ لو د فابریکی څر نگوالی اوښه‌والی کال‌په‌کال‌مخ‌په‌ښه کیدو اوتکامل‌روان‌دی.

دقندهار دپښتون فابریکه : دافابریکه درنگا رنگ خوږو اود میوو په سا تلو ، د شر بتو نو او مربا‌په جوړولو پوری اختصاص‌لری ددی فابریکی‌محصولا ت په ۱۳۲۲ او۱۳۲۱ کښی چه‌د(محصولاتو منځنۍ اندازه ښیی)په‌راتلونکی ډول‌سره‌دی .

| | | |
|---|---|---|
| په ۱۳۲۱ کال کښی خوزی او نقل | ۷۹،۲۸۸ | کیلو گرام |
| شربت | ۷،۵۷٤ | بوتله |
| مربا | ۸،٤۱۷ | دبلی(قطی) |
| دباټنګرو(رومی بانجان)مربا | ۱،۳۹۵ | بو تله |
| په ۱۳۲۲ کال کښی نقل اوخوزی | ۳۹۱۳۲ | کیلو گرامه |
| شربت | ۵،۰۰۵ | بو تله |
| مربا | ۲۳،۳۹۱ | دبلی(قطی) |
| دباټنګرو (رومی بانجانو)مربا | ۱،۵۸۵ | بوتله |

دبغلان دقند جوړولو فابریکه : دا فابریکه په ۱۳۲۲ کال کښی ودرول شوی او د ۱۳۲۲ کال دعقرب په میاشت کښی ئی په کار پیل کړی دی .

دفابریکی حجم په پوره اندازه لوی دی او په یوه شپه اوورځ کښی د(۸۰۰) څخه نیولی تر(۱۰۰۰) تنه لبلبو په کښی په کاراچول کیږی او که په چټکی سره ورته (بی له ودریدلونه) پوره لبلبوورورسولی شی له (۱۰) څخه تر (۱۱) زره تنه پوری پوره تری راوتلی شی . دبغلان ځمکی ګټوری دی چه دهربزګر کورنی ته(۱۲) جریبه پوری دډی دپاره ورکړ شوی دی چه دتناوب قانون سره برابر لبلبو په کښی وکری له هغو ځمکو نه پرته (علاوه) چه بزګرانو ته ور کول کیږی (۳۳۰۰) روپی لومړی ځل دتقاوی په پول ورکولی کیږی څوچه دکښت دضرور یاتو په براولو کښی له سختیو سره مخامخ نشی . دبغلان د قند لبلبو د فیصدی مقدار په لمړنیو کلونو کښی په سلو کښی $(\frac{1}{2}-16)$ دی خو هرکله چه له ځمکو څخه پله پسی (متواتره) حاصل اخستل شوی او (عضوی یا کیمیاوی کود) په پوره اندازه نه دی ورسیدلی نو ځکه اوس په سلو کښی(۱٤)دی په ځو وروستیو کلونو کښې دنوموړی فابریکی دحاصلاتو شمیر دلاندنی جدول په پول سره دی :

## له ۱۳۱۹ نه تر ۱۳۳۰ پوری دبوری دجوړولو دفابریکی دپیداوار صورت

| کالونه | کښتی مځکه | دیو جریب حاصل | | دلبلبو وتول حاصل | | دشکرې فیصدی | دفابریکی دکارموده | دکار شوو لبلبو اندازه | | دحاصله شکرې اندازه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | منه | خروار | منه | خروار | | | من | خروار | من | خروار |
| ۱۳۱۹ | ۵۸۰۰ جریبه | ۱۰ | ۲ | ۰ | ۱۵۳۰۰ | ۱۶/۹٤ | ۲٤ ورځی | ٦۹ | ۱٤۸٦۷ | ۰ | ۳۰٤٤ |
| ۱۳۲۰ | ۱۰۰۲۰۰ « | ۰ | ٤ | ۰ | ٤٦۸۰۰ | ۱۶/۹۰ | ٤۵ ورځی | ۰ | ۳۸۲۸۱ | ۰ | ٦٤٤۵ |
| ۱۳۲۱ | ۱۵۰۹۰ « | ۲۱ | ۲ | ۰ | ۲۸۰۰۰ | ۱۶/۲۹ | ۳۰ ورځی | ۰ | ۳۹٦۰۰ | ۰ | ۵۱۸٤ |
| ۱۳۲۲ | ۲۰۷۱۲ « | ۵٦ | ۲ | -٦٤ | ۵۵۵٦۷ | ۱۶/۵۰ | ٤۱ ورځی | ۰ | ۵٤۷۲۰ | ۳۲ | ۹٦۸۹ |
| ۱۳۲۳ | ۱٤۸٦۹ « | ٤۰ | ٤ | ۰ | ۱٦٦۷۷۷۹ | ۱٦ | ٤۲ ورځی | ۰ | ۳۲۰۰۰ | ٤۰ | ۷۸۵۱ |
| ۱۳۲٤ | ۲۰۳۲۰ « | ٦٦ | ۲ | ۰ | ٦۵۸۸۰ | ۱٦ | ٤۱ ورځی | ۰ | ۳۱۰۰۰ | ۰ | ۷۷٤۹ |
| ۱۳۲۵ | ۲۱۱۲۷ « | ۸ | ۲ | ۷٦ | ٤٤۳۷۲ | ۱۵/۸۰ | ۳۸ ورځی | ۷٦ | ٤٤۳۷۲ | ۷۵ | ۱۱۳۸۱ |
| ۱۳۲٦ | ۰ « | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | « ۰ | ۰ | ۰ | تعطیل (ودریدل) | |
| ۱۳۲۷ | ۰ « | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | « ۰ | ۰ | ۰ | ودریدل (تعطیل) | |
| ۱۳۲۸ | ۲۱۸٦۰ « | ۵۰ | ۲ | ۱۱ | ۵٦٦۰۷ | ۱۵/٦۰ | ٤۰ ورځی | ۱۱ | ۵٦٦۰۷ | ۵۹ | ٦۸۵ |
| ۱۳۲۹ | ۱٦٦۰۰ « | ۸ | ۲ | ۲۷ | ٦۱۸۱٤ | ۱۵/۵۰ | ٤۲ ورځی | ۲۷ | ٦۱۸۱٤ | ۲٦ | ۸۰۷۱ |
| ۱۳۳۰ | ۳۰۰۰۰ « | ۵۰ | ۳ | ۵۳ | ۹۸۸۵۹ | ۱۵/٦۰ | ٤۷ ورځی | ۵۳ | ۹۸۸۵۹ | ۵۳ | ۷۵۷٤ |

د قندز د تیل اسیتلو او صابون جوړولو فابریکه :

د قطغن د ولایت د پنبی کالنی حاصل نژدی (۲،٤۰۰،۰۰۰) منه کیږی چه له دی ټولو نه په سلو کښې $\frac{1}{3}-66$ یعنی (۱،٦۰۰،۰۰۰) منه ئی پندانه کیږی هغه تیل چه د دغی پندانی نه لاس ته راځی په سلو کښی د دیرشوله مخی (٤۸۰،۰۰۰) منو ته رسیږی له همدی کبله د صابون دجوړولو لپاره دپندانی څخه استفاده شوی او یو اندازه کافی صابون لاس ته راځی او په کمه بیه دخلکو په لاس ورکول کیږی په قندز ، تالقان ، حضرت امام ، بغلان خواجه غار کښی په بیړه او اسانی سره د ماشین په وسیله پندانه له پنبی بیلوی او وروسته له هغی چه پندانه وو سیتل شی پاتی شوی (تفاله) ئی کنجاړه کیږی چه له هغی نه بیار ځمکو د چاغوالی د پاره دهغه (آزوت) په سبب چه لری ئی کار اخستل کیدای شی مګر اوس په قندز کښی نوموړی کنجاړه دسولو د موادو په حیث د صابون جوړولو په فابریکه کښی استعمالیږی .

د پوستکو صنایع : د وزو ، پسونو او غو یا نو څرمنی نه یوازی د باندی مملکتو ته استول کیږی بلکه زیاته اندازه ئی په دننه هیواد کښی په خرڅ رسیږی چه خلک په معموله طریقه آش (دباغت)ور کوی پنی، بوتونه

موزی خپزونه (مشکونه) ، بکسونه څیلې ملاوستنې، (کمربند) دآسونوز ینونه اوداسی نورشیان جوړوی. دپسونو، وزواوغویانو څرمنی په کال کښې نژدی اوه ملیونه جلد ونو ته رسیږی او نژدی یو ملیون ئی د باندی ملکوته استول کیږی . د اقبال د بوټونو د ګنډلو شرکت په هر کال کښې یو شمیر د نسر واوښځوبو ټان په وطنی ساخت سره دبلورلود پاره برا بروی خو څر نګه چه پوستکو ته یی دننه په هیواد کښې په صیحح ډول خور (دباغت) نه ورکول کیږی اوځنګه چه بنائی هغسی غوره پوستکی لاس ته نه راځی نو ځکه کال په کال د نارینه ؤ او ښځو یوشمیر بوټان اوداسی نورچرمی څیزونه دباندنیو مملکتو څخه هم راوړل کیږي .

## دافغانستان مستظرفه صنائع:

لرغونی (قدیم) افغانستان د (صنعت) یادارو پائیان و خبره «آرت» له مخې چه ده مستظرفه صنائعو اړه څانګی ورپوری اړه لری له پخوازمانو څخه راپه دې خوا تل شته من ؤ . مدققین عموماً په دې عقیده دی چه کم له کمه په دریمه قبل المیلاد پیړۍ کښې صنعتی ټاټوبی اوکانون دهندوکش په دواړو خوا وو په تیره بیا بلخ کې موجود ؤ چه کولای شو هغه دهندو ایران او ماوراءالنهر دصنائعو دالهام مبدأ وبولو هغه صنعت چه یې اروپائیان «ګریکو بودیك» یا «یونانو بودائی» بولی اویایې د پیدایښت دلومړی ټاټوبی په نامه «باختری صنعت» ګڼو دافغانستان دلرغونو استادانو دهنرنمائی دمظاهرو څخه دایومظهردی چه یې ځانته ډول ډول مدرسې لرلې اوپه مختلفو رنګونو یې دافغانستان نورو ګاونډیو هیوادونو، هند، منځنۍ آسیا ، چین او نورو ځایونو ته نفوذاوانتشار پیدا کړی دی .دافغانستان په تاریخ کې ددې صنعت مطالعه دا ایجابوی چه دصنعت د پیدا کیدوعوامل دمختلفو مرکزونولومړنی ځای، دترقی او تنزل دوخت مدرسې اوخپرښدنه یې دآسیا په بیلوبیلو برخو کې شرح کړل شی . نوله دې کښله بنایی چه ترټولونه پخوا دعمو مې تعریف ، دعواملو دتشخیص اودپیدا کیدلو یاظهور په شاوخوا کې خبرې اترې وکړو . د (ګریکوبودیك) صنعت څنګه چه یې له نامه څخه څرګندیږی یوصنعت دی چه ددوو، رو حونو دتماس، دوو تهذیبونو دتصادم اودوو عقیدو او نظریو دیو ځای کیدو څخه پیداشوی دی، چه یوپې یونانی اوبل یې بو دایی دی .

داسکندر سوبو ( فتوحات) په خا تیځ (شرق) کې د آسیا مرکز دمډیترانې دهندو سره نښلاؤ اوله دې فتو حاتو سره دیونان تهذیب، پنځه پیړۍ پخوا دمسیح له وخته څخه، او اوهمدارنګه هیکل تراشی چه یې په یونان کې ډېرزیات اهمیت لاره دآسیا په مځکو کې نشرشوه . داسکندر تېرېدو په شرق کې دیونانی هیکل تراشی بهترین روح خا تیځ (شرق) ته راوړ او دیونانو باختر دمستقلو شاهانو دوه سوه کلنی سلطنت دغه روح په آریاناکې ټینګ اوپایه دارکړ . له ښه مرغه وروسته دیونانو باخترد مستقلو شاهانو د سلطنت دد وړې پای ته رسېدلو څخه چه دمسیح دعهد شروع کیدوته نژدی پای ته رسیږی دلرغونی (قدیم) افغانستان یاآریانادسلطنت واګی وروسته داسکا ئیانو اوپهلویانو له لږ څه مداخلت څخه دکوشانیانو لاس ته ورغی اودوی داسی دباختر دپخوانو پادشاهانو په پله باندې ولاړل چه باختری صنعت ددوی دسلطنت ددورې په نرمه فضاکې وده اوترقی وکړه . نوله دی کبله دکنیشکا دواکداری دوره چه دمسیح ددوهمې پیړۍ نیمایی ته نژدې ده دګریکو بودیك دصنعت دلوړوالی اوعروج دوره بلله کیږی . نژدې هغه وخت ته چه دیونانی صنعت روح په افغانستان قدیم کې خپر ېده د «ساکیامونی» نوی دین هم دهیواد سرحدونوته را رسیدلی او یوستر انقلاب په مخکښې ؤ . بودائی دیانت چه یې په شپږ مه مسیحی پیړۍ کې په هندکی ظهورکړی ؤ د «آشوکا» دموریا دکورنۍ دپادشاه دمبلغینو په واسطه دقبل المیلاد په دوهمه پیړۍ کې دآریانا په سرحدونو اوشرقی برخو کې خپورشو اوپه ورو ورو یې دیوې دوو پیړیو په تېرېدو د افغانستان ډیره ستره برخه دهندوکش په شمال اوجنوب کې ونیوله . دبودائی دین خپرېدنه په افغانستان کې دیونانی دصنعتی روح له تاثیره څخه کمه نه وه. دخلکوافکارو، معتقداتو، طرز تخیل او ګمانونوته یې ډیرسخت ټکان ورکړ اویورښتینی انقلاب یې ډګرته راوایست دبودا پیروانو تخیل، داستان اوافسانې را وړلې او یونانی صنعت کارانو دهیکل تراشی روح او دهغه ښودنه اوننداری او تخیل او افکار راټول کړل ، په نتیجه کې ددې دوو تماسونو په اثر زمینه دې ته مساعده شوه چه په افغانستان کې یو کټ صنعت پیداشی چه یې عموماً « ګریکوبودیك» اویا دباختر صنعت بولی . په مخکښې کرښو کې موو ویل چه باختری یا د (ګریکوبودیك) صنعت دیونانی صنعتی روح او بودائی مذهبی افکارو په اثر د آریانا په مځکو کې مینځ ته راغی . څرنګه چه ددې ستر ې مدرسی پیدایښت دوه خوا وې لری او هره یوه یې دتوجه وړه نوله دې کبله د لته دیونانی صنعتی روح پراختیا یاد (یونانو باختری) صنعت دمکتب تشکیل مطالعه کوو . سره له دې هم چه زموږ په هیواد کې تراوسه لاپوره حفریات اوپلټنې تر یونانی عصر څخه په پخوانوطبقو کې نه دی شوی خوبیاهم دهغو تحقیقاتو له مخې چه په افغانی سیستان او (شهربانو) کې شوی دی څرګنده شوې ده چه دختینو (ګلی) مجسمو جوړول زرکاله پخواله میلادځخه هم دهندوکش په دواړو خواوو کې رواج لاره . دسکندر سو بو (فتوحات) په خاتیځ اودیونانو باختری پاچهانو دوه قرنه واکداری په آریاناکې

دصنعتی ذوق په روزنه کې نوی عصرو پرا نیزه . په دې کې څه‌شك نشته چه یونانیان دظریفه صنائعو په ببلوببلو څا نگو په تیره بیا هیکل تراشی کې ترټولو ولسونو څخه مخکښی اودافن یې په‌لوړه درجه پرمخ بیولی‌ؤ. دافن‌دسکندر په‌عصر کې دیوه گړندی اوستر استاد (لی‌سپ) په‌واسطه چه‌یې د در بار هیکل‌تراش ؤ دپرمخ تگ وروستی حدته‌رسیدلی‌ؤ. د (لی‌سپ) مدرسې په‌آریانا کې ډیرزیات تاثیر کړی‌اودتوجه وړو گرځیده اوعلت یې هم‌دادی چه‌دغې مدرسې‌د (ریالستی) ممیزات لرل‌او بې‌له مبالغې یې حقائق ښکاره کول . باختری استا دانو دهغه دمدرسې په‌اصول دحقیقی تصویرونو نقش او کښل د مسکوکاتو پرمخ زده کړل اودیونانو باختری پاد شاهانو قیافی او بنې د مسکو کاتو پرمخ داسی په‌دقت کښل‌شوی اونقش شوی دی چه یې‌دمخ‌ممیزه خطوط اوحتی‌روحی‌خواص‌هم ورځخه‌ښکاری. په‌دې ترتیب با ختری نقاشانو اودهیکل‌تراشی استادانو له یو نانیو بهترینې مدرسې څخه الهام اخستی اوهغه یې عالی مدا رجو ته رسولی‌دی ، اوداسی یې داکارپوره کړی دی چه‌حتی معاصرین یې په‌یونان کې‌هم‌په‌دوی پسې‌نه‌شوه‌رسېدلای. دهډې له‌مجسمو څخه‌څر گندیږی‌چه‌دافغانستان‌دهیکل‌تراشی استادانو دقدتناسب اولوړوالی‌د(لی‌سپ)په‌موضوعه اصولونوجوړاوه ،اودمسکوکاتو له‌مخی ښکاری چه‌څینی‌یونانی دمیتولوژی ارباب انواع یې لکه (هر کول) دهغې مجسمی له‌مخې‌چه (لی‌سپ) جوړه کړې‌ده‌نقل کړی‌دی ، ددې‌سترې مدرسی انعکاس دیو نانو باختری‌پاچهانو په‌مسکوکاتو کې ، او دشاهانو دتصویرونودنقش کامل صحت پرهغو باندې ، دفن دماهرینو توجه ځانته جلبه کسرې ده اوپه تیره بیادامسأله ډیره زیاته دتوجه‌وړه‌چه‌ددې وخت معاصر ینو حتی پخپله یونان کې هم‌د پاچهانو هېرې په‌دې ښکلا او دقت نه شوی ضربولای ، دهمدې مفکورې په‌اساس «مدام تر یور» چه‌یوه پوهه روسی ښځه‌ده په‌دې باره کې‌یومهم کتاب کښلی اوداسی‌لیکی : چه‌باختری‌صنعت کارانو د(لی‌سپ) له‌مدرسې‌څخه الهام اخستی‌دی. اودصنعت‌دپوره کولو په‌مراتبو کې یې‌خپل‌لاس ډیر زیات‌دخیل‌ؤ نوښایی‌چه‌دامدرسه‌د ( یونانو باختری) مدرسه وبولو . د (یونانو باختر) صنعتی‌مدرسه‌زموږ دمملکت اونورو گاونډیانو حتی آسیا په‌تاریخ کې ډیر لوړ مقام اوزیات اهمیت لری اوالهامی کانون‌شمیرل کیږی‌چه‌دهندوکش په دواړوخواو کې دصنعتی مکاتیودجوړېدوسبب شوې‌ده ، اودآسیایی‌مستظرفه صنایعو په‌جهان کې‌پې‌تر ډیرولرې ځایونواواوزدو زمانوپورې تاثیر اچولی‌دی دباختر صنعتی مدرسه د یونانو باختر د مستقلو شاهانوپه‌دوره کې (په‌اوله‌ق‌م پېرۍ کې) دهندوکش په‌شمالی برخو کې مینځ‌ته‌راغلې‌ده او وده یې وکړه ، دهند وکش‌جنوبی خواوې یې هم ونیولې باذوقه استادان په هیکل‌تراشی ،نقاشی، حکاکی اورسامی کې‌پیدا شول چه‌یې په‌تماس دبودائی افسانو اونقلونو سره صنعتی ذوق دومره قوی‌شوچه‌د (گریکو بودیك (صنعت) مینځ‌ته راغی . څرنگه چه موویل باختر ی صنعت یو گډ صنعت‌دی چه‌دیونانی صنعتی‌مدرسې‌یا (یونانو باختری) دبهترین الهام اودبودائی مذهبی روحیاتو په‌اثر د افغانستان‌په مخکو کې مینځ ته راغلی‌دی اوپه‌تېرو مخونو کې مودغه دوه عامله‌سره بیل‌اودلومړنی برخه‌یعنی ذیونانی ( یونانو باختری) دمدرسی څرنگوالی‌موشرح کړ ، اوس‌دوهم عامل یعنی‌دبودائی افکارو اوروحیاتو دخالت په‌دغه صنعت کې‌بیانوو . ښکاره ده چه‌بودایی آئین دق‌م په‌شپږمه پېړۍ کې‌دهند په خاوره کې دمدراس اوننئ«پتنې» شاوخواته پیدا شوی دی اووروسته له څلور سوه کاله ژوندانه څخه دهند په‌خاوره کې‌،دق. م‌په‌دوهمه پېړۍ کې‌د (اشوکا)دموریا دکورنۍ‌دپاچا مبلغینو په واسطه دآریانا شرقی‌سرحداتوپه‌تیره بیا گندهارا ته‌ورننوت، دبودائی آئین پیروان ددې دین دځلور سوه کاله تقرر په‌موده کې دهند په‌خاوره کې، دصنعت، نندارو اومذهبی داستانونو له مخې په وړو اوتنگو حلقو کې‌وو چه‌یې ورځخه دوتلو جرئت نه‌لاره، پایه بل عبارت‌دبودا هندی‌پیروانو اوددوی صنعت کارانو جرئت نه‌شوو کولای چه(بودا) دانسان په‌بڼه اوشکل وښیی.اوځرنگه چه ددوی ټول داستانونه د(ساکیامونی) شخصیت‌اشغال کړی‌وو نویې دصنعت دپراختیا په‌تیره بیاهیکل تراشی‌په‌لاره کې ډیر ستر مانع په مخکښی درلود، لکه چه بمبا یی ته نژدی دمعابدولوحې‌د(سانشی) استوپې دانظریه ډیره ښه‌تائید وی او صنعتگر دهیکل‌تراشی دصحنی په مختلفو ځایونو کې دمرکزی او گړندی شخص ځای‌چه‌د صحنې مهمه نقطه وه خالی‌پرې‌اینې اوهغه یې په‌مخصوصو علامو لکه چترۍ ، سیوری کونکی ، پنې اونور ډک کړی‌دی . چه‌دسمبول لونبې په‌شکل‌د ( ساکیا مونی بودا) دوجود نمایندگی کوی اما پخپله‌دی خارجی وجود نه‌لری . دغه‌سترې نقیصه‌هغه‌وخت له‌مینځه واخستل شوه چه‌دبودا آئین دشرقی آریاناپه‌برخو کې په گندهارا کې خپورشو. اوهغه څوك په‌دې دین باندې وگروهېدل چه دیونانو باختری دهیکل تراشی اوصنعتی مدرسې هغوی‌ته دهرشی‌اوهرچا دنمایش جرئت ورکړی ؤ اوپه‌دې لاره کې ډیرآزمیل شوی اوپاخه شوی وو. دلته‌ده چه‌لومړی پلاپه‌شرقی‌افغانستان کې‌شته‌من‌اعانه ورکونکی چه‌یې خپل شته د مذهبی سترو و دانیو دپاره و قفول دمحلی هیکل‌تراشانواوصنعتگرانو سره مخامخ شوه اوپه‌پای کې‌وروسته له‌څلور سوه‌کاله تېر شوی تاریخ څخه لومړی پلا د بودا هیکل (مخصوصاً دمجسمی سراومخ)په‌افغانستان کې جوړشو. داهم‌باید وویل شی‌چه‌دا مسأله نوې حقیقت ته رسېدلې ده چه د باختر یا (گریکو بودیك) دهندوکش په جنوب کې نه بلکه په‌شمال کې‌یې دباختر په شاوخواکی زیږ یدلی اودهندوکش په جنوب

په(کاپیسا) مخصوصاً په‌هده کې‌یې ووه اوترقی کړې‌ده .دامطلب یوه موضوع ده چه وروسته به‌یې په‌شاو خوا کې مفصلې خبرې وشی ، سمدلاسه په‌دې قضیه پیل کوو چه‌له‌یوې خوانه هندی بودائی افکار، تخیلات ، او قصی اوله‌بلې‌خوا د یونانی دهیکل تراشی دمکاتبو الهام دهندوکش په دواړو خواوو مخکو کې سره‌مخامخ‌شول، اودمتقابله احتیاج یه‌اثر دآریانا په خاورو کې داسی‌یوصنعت وزېږېد چه‌مشترك مميزات‌لری ، اود دوو ، بیلو عواملو دګډېدو په اثر یوښکلی او نوی صنعت مینځ ته راغی چه‌په لرغونی(قدیم) افغانستان پورې مختص‌دی اوله‌همدې کبله یې‌دباختر دښکلی صنعت په نامه یادوو .

هډه : تردې ځایه‌موپه عمومی ډول‌سره د ګریکو بودیك دصنعت‌تعریف او دمختلفو عواملو تاثیر په هغه کې شرح کړ . اوس غواړو چه‌یې آثار اوشواهد چه‌دافغانستان له ځینو برخو څخه تراوسه‌پورې پیداشوی دی مطالعه کړو . ترځوکاله پخوا پورې‌هم داسی تصور کیده چه دګریکو‌بودیك د صنعت دپیدا کېدو مرکز دهندوکش په‌جنوب دګندهارا په دره کې‌دی . اما وروسته له‌دې څخه چه ځینی آثار دقندوز څخه کشف شول او د(ګندهارا) پرشواهدویې قدامت لاره ، مدققینو اعتراف وکړ چه‌دګریکو بودیك دصنعت مبداء اولومړنی مرکز دهندوکش په‌شمال (باختر) کې‌دی اوپراختیا اوپرمخ تګ‌یې د هندوکش په‌جنوب په(ګندهارا) اونور ځایونوکې شوی دی .

د(ګندهارا) په‌دره کې‌ددې صنعت مرکز هډه‌ده . چینی‌زوار (فاهین Fahien) او ( هیوان تسنګ Hiuen Tsang ) پخپل مسافرت کې د(ناکی‌لوها) یعنی(نګاراکارا) ( اوسنی ننګرهار) نوم‌اخلی اومعروف ښاریې (هیلو)بولی چه‌عبارت د(هډې) څخه دی . «هډه» دجلال‌آباد دجنوب په ۸ کیلو متری کې واقع ده اودبودائی معابدو آثار تر ډیرولرو فاصلو پورې یوې خواته د(درونتی) تر حدودو پورې دکابل دسیند په‌غاړه اوبلې خواته نژدې دچپلیار ددرې ترځنډوپورې لیدل کیږی ؛ کوم ځایونه چه‌صنعتی‌شواهد ورڅخه پیدا شوی‌دی په‌دالاندې ډول دی :

پخپله هډه کې یوه‌لوړه‌تپه (دکافرانو برج)اولویې‌پتې‌څخه‌په ۳۰۰ متره فاصله‌یوه‌بله‌تپه‌ده‌چه، (دکافرانوتپه) یې‌بولی د هډې دشمال‌شرق خواته (ده‌غنډی) یه‌همدې سمت ۱۳۰۰ متره لرې یوه غونډی ده‌چه (شاخیل غونډی) نومیږی چه د شګلتی جلګې په‌مینځ کې معلومیږی .

د چپلیار ددرې دلارې په مینځ کې یوځای دی چه(غارنو) نومیږی اودې‌ځای‌ته نژدی‌یو بل ځای‌دی چه‌یې«باغ ګاهی» بولی.

له ډغو واړو ځایونو څخه ځینی آثارو او شواهد لاس ته راغلی‌دی ،ولی لومړی پلا ترهغو پورته ځایونو څخه زیاتره آثار لومړی‌له ( لویې‌تپې) او بیاله (باغ ګاهی ) څخه کشف شوی دی .

دمعابدو دتعداد اودآثارو دکثرت له‌مخی چه دهریوه څخه په‌لاس‌راغلی‌دی‌داسی ښکاری‌چه‌ډیرو زیاتو صنعتګرانو په هډه اودهډې په‌شاوخوا کې هستوګنه لرله . کله‌چه «موسیو ګودار» د هډې په لوړه تپه کې حفر یات کول د صنعتی شواهدو د کثرت له مخې یې هغه ( د ګریکو بودیك دصنعت یوه دکابل موزه) بللې ده .

پخوا موویل چه دهډې صنعتی مدرسه دګندهارا په‌هغو مکاتبو باندې رجحان لری ، دا نظریه د هډې او د ګندهارا دنورو ځایونو دپیداشوو آثارو له‌مخې مینځ‌ته راغلې‌ده . مثلا موسیو ګودار په دې باره کې لیکی : «دهډې ځینو مکشوفه مجسمو ساری تراوسه‌پورې د ګندهارا په هغوبرخو کی چه‌دهند په‌خاوره پورې اړه‌لری نه‌دی‌پیداشوی». نومورې مدقق دهډې یوه خټینه مجسمه مثال راوړی او وایی: «ددې مجسمې داندام طرحه ډیره ښکلې او د تحسین وړده ، لباس یې د یونان دعصر دبهترینو لباسونو په‌څیر لطیف اونازك‌دی». موسیو «هاګن» په‌یوه کتاب کې چه دفرانسویانو لس‌کلن حفریات په افغانستان کې‌نومیږی ، دهډې آثار دهنداوپنجاب د شمال غربی ځینی برخو دشواهدوسره پرتله (مقایسه) کوی اولیکی: (هغه‌آثارچه له‌تخت باهی‌څخه «دډاکټر اسپونر دحفر یاتو په واسطه» اوپه تاکزیلا کې‌د «سرجان مارشال» د حفریاتو په واسطه کشف شوی‌دی ، له‌یوه پلوه دهډې دآثارو سره مقایسه کیږی، کوم شی‌چه په‌هډه اودهند په شمال غرب کې مشترك دی دبودا او فرعی ارباب انواعو مجسمی دی چه دفوشه د نظریې سره سم له‌جلال‌آباد څخه تراول پنډی‌پورې‌یوه‌صنعتی‌مدرسه جوړوی د«تخت باهی» ځینې آثار دهډې‌سره دپرتله کولو وړدی اما له‌ټولو خواو څخه دهډې له مدرسی سره‌مخی‌نشی کولای‌ځکه بر سیره پر کثرت د آثارو او نفاست هغه مجسمی چه نژدی دی عناصر را ښیی هغه هم دهډې څخه پیدا شوې دی ) لنډه داچه د(هاکن) په عقیده د هند دشمال غربی آثار دهډې له مدرسې سره چندانې مخی (همسری) نشی کولای او هډه دګندهارا پرنورو ټولو برخو باندې مزیت‌لری . نوله‌دی کبله کولای‌شو چه‌هډه دګریکو بودیك د صنعت دورې اوترقی ډیر سترمرکز وبولو .

کابل اوکاپیسا : اوس موچه دګریکوبودیك دصنعت مبداء په «باختر» او دپراختیا او ترقی مرکزیې په (هډه) کی شرح کړو بهتره ده‌چه دکابل اوکاپیسا آثار یه‌لنډول‌سره‌مطالعه کړو: څیرونکودیولې استوپودتمرکزله‌مخې‌د«شیو کو» په‌شاوخوا کښې

کې هغه ځای « بودائی کابل» بللی دی چه د ننني ښار دودانیو دجنوب شرقی ۸ کیلومتری ته نژدې واقع دی .

که‌څه‌هم هغه آثار چه په۱۳۱۲ کې د « مرنجان تپې » اود «خزینه تپې » څخه کشف شوی‌دی دننني کابل د آثارو جزؤ بلل کیږی او تراوسه لاخنګه چه ښایی نه دی تدقیق شوی . نوله دی کبله ویلای شو چه نسبت وخو کلونو پخوا ته چه مو تاریخی آثار یوازی په(بودائی کابل) پوری منحصر وونن مو دمعلومات دائره دکابل د آثارو په باب کې پراخه شوې ده .

هغه آثار چه‌له‌دې دوو تپو څخه پیدا شوی‌دی په دووبرخو یې ویشلای شو :

۱ـ دخزینه دتپې آثار چه‌عموماً د سرونو په‌شکل په لاس راغلی دی ټول خټین دی څرنګه چه یې معبد داور په واسطه خراب کړی‌دی د مجسمو سرونو دنیم‌پخته خټې په شکل تحول موندلی‌دی اوترکوم ځایه چه‌یې‌دوښتانو دجوړښت له‌پول څخه ښکاری کولای شو چه دغه سرونه د د ریمې مسیحی پیړۍ کارو بولو .

۲ـ برخلاف دهغه آثارو چه د مرنجان له تپې څخه کشف شوی‌دی لږځه وروسته دی. دلته‌یې هم دهیکلونو په جوړولو کې له‌خټې څخه کاراخستی‌دی چه‌پرمخ باندې‌یې دګچ یوه ډیره تازکه پرده لیدله کیږی اوپه کوم ځای کې چه داپرده نشته نوې‌یې خپله خټې ته رنګ ورکړی دی . مهمتر ینه مجسمه چه د مرنجان له‌تپې څخه کشف شوې‌ده د(بودیس اتوا) ستر هیکل دی‌چه‌دکابل په موزه کې شته‌دی .ددې مجسمې غړی ډیر متناسب جوړشوی‌دی اودتشریح دعلم په‌موضوع کې دکابلی‌هیکل تراش په‌کافی معلومات‌باندی دلالت کوی ،دهغو مسکوکاتو له مخې چه دمرنجان له‌تپی‌څخه په‌لاس راغلی دی کولای‌شو چه دا مجسمه دمسیحی ددوهمې نیمائی پیړۍ وبولو .

هغه د مرمر مجسمه «سوریا» د سپوږمۍ رب النوع چه دموسیو کرل دحفریاتو په‌اثر د۱۳۱۲کال‌په‌پای کې دخیر خانې دکوتل څخه پیداشوه هغه‌هم‌دکابل دآثاروڅخه‌ده، چه د برهمنی دلمر لمانځنې (آفتاب پرستی) په‌تیتوالی یه(٤)او (٥) او (٦) او(٧) مسیحی‌پیړۍ کې دهندوکش په‌جنوب په‌تیره بیا د کابل په‌شاوخوا کې شهادت ورکوی .

دکاپیسا حوزه چه‌دکابل په‌شمال کې ټول کوهدامن او کوهستان ورڅخه‌عبارت‌دی ، دبودائی دیانت او یونانو باختری صنعتی‌روح له‌مخې ډیر زیات اهمیت لری ، اما ترکوم ځایه چه د(پایتا وې) « دبګرام او سرای خواجه تر مینځه» او د بګرام دکشفیاتو له مخې ښکاری هیکل تراشی په‌دې‌ځای کې تر هډې او بامیانو څخه تنزل کړیؤ موسیو هاکن په ۱۹۲٤م کال‌کې لومړی‌پلادپایتاوی څخه د«سلیت» د تېښې یوه مجسمه کشف کړه چه‌یوستر اوخارقه بودائی هیکل‌راښیی اود کشف په‌وخت کې یې لاهم ځینې طلایی څېر کی‌په بدن نښتی وو ، څنګه چه پرو فیسر هاکن وایی دسپینو اوسرو زرو دځیر کو د نښلولو اصول پر هیکلونو باندې د فلاو ینیانو په عصر کې (٦٩-٩٦ وروسته دمسیح څخه) د رومیانو اوپارتیانو په منځ کې رواج لاره اودغه رویه په‌کاپیسا اوباختر کې‌هم خپره شوه ، دا مجسمه له‌هغو خواوونه دهیکل‌تراشی‌ټیتوالی پیل‌په کاپیسا کې راښیی.

۱ـ د سر غټو الی‌دبدن دچګوالی یوپرپنځمه برخه‌لوړوالی نیولی دی . حال‌دا چه دهډې ډیر ټیټ آثاردیو پرشپږ او یو پراوه نسبت لری .

۲ـ د مجسمې تندی دستر رومن دعصر د ورو ستنې رویې په‌دود جوړشوی دی .

۳ـلاسونه یې‌ډیرستردی نویې‌له‌دې کبله‌موسیوهاکن تراشل دمسیحی‌دریمې پیړۍ په اواخرواو دځلورمې‌پیړۍ‌په‌اوایلو کې بولی‌اودغه‌عصر دهیکل‌تراشی‌دانحطاط شروع‌په‌کاپیسا کې‌بولی .

له‌بګرام (شترک) څخه‌هم د(موسیو برتو) دکشفیاتو په‌اثر په۱۹۲۵کال اودموسیو مونه دحفریاتو په‌اثر په ۱۹۳۹ کال کې یوشمیر مجسمی اودسلیت دډبرې څخه نور شواهد کشف شوی دی‌چه ډیره‌زیاته برخه یې دبګرام د(شترک) دکوتې څخه‌دکابل په موزیم کې موجوده‌ده. اوڅرنګه چه‌موسیو هاکن ویلی دی ټول په ځلورمه مسیحی پیړۍ پوری‌اړه‌لری ، همدا ډول څنګه چه‌وویل شو د(ګریکوبودیك ) دصنعت‌دانحطاط ددورې‌شروع په‌کاپیسا کی بلل‌کیږی .

با میان : بامیان دکابل دشمال غرب خواته په‌مابین د هغې سترې تاریخی لاره کی وقوع لری چه پښتور یی د کابل سره نښلاوه اودکاروانو نو، زوارو، اوصنعت‌ګرانو دتګ او راتګ لاره‌وه .اوفاصله‌یی له‌کابله دغوربند ددرې له‌لارې‌څخه (٢٤٥) کیلومتره اودسرچشمی اوکالودلارې څخه (۱۳۰) کیلومتره ده

چینی زوارو دلځای (فن-ین) یا(فن‌یانا) بللی‌دی او اوسنی نوم‌یی بامیان دی .

دبامیانومذهبی،تاریخی، جغرافیائی، اوصنعتی اهمیت دومره زیات‌دی‌چه هره برخه‌ئی لځانته رسالی او مقالی غواړی . همدا ډول که بامیان یوازی دصنعت له‌مخی وڅېړل شی اودمعماری هیکل تراشی‌اونقاشی‌دسبك په شاوخوا کی پی مفصل څه شی ولیکل شی ډیر پنډ کتاب ورڅخه جوړیږی نو له دې کبله کوم شی چه‌دلته ویل کیږی یوازی یوه‌اشاره‌ده چه‌د ګریکو بودیك دصنعت نفوذ ته په‌دغه ځای کی کیږی ، څرنګه‌چه «موسیو ګووار» نظریه ورکوی د بامیانو ستره (٥٣) متری مجسمه چه‌دټول عالم ډیر ستر بودائی هیکل‌دی دګند هارا د مدرسی

په‌اصول جوړه شوې‌ده اودنوموړی مدقق دنظریی له‌مخی ډیر زیات احتمال لری چه داستر هیکل دگندهارا دوړو هیکلو نو دنمونی له‌مخی جوړشوی وی . اوپه‌تیره یی بیا د را هبی چین ماچین جامی داعقیده شه‌تائیدوی. کوم‌وخت چه«موسیو کووار» دانظریه شنکاره کړه په‌بامیانو کی لاشه حفریات نه وو شوی . په۱۹۳۰کال کی مو سیو هاکن دیوې وړی ۳۵ متری مجسمی له پښو څخه په بامیانو کی دیوه وران معبد له مینځه خټینی مجسمی اوسرونه پیدا کړل‌چه‌بودا اوراهبین او شیاطین‌تمثیلوی ، اودهغې آثارو ته‌ډیرزیات‌ورته‌والی‌لری او داسی شنکاری چه دموسیو(گووار) نظریه در سته ده او د هغې دگریکو بودیك دمدرسی روح په‌بامیانو کی ډیرزیات تاثیر کړی دی . یوازی دومره شنایی پوه شو چه څرنگه په بامیانو کی ددوهمی مسیحی پیړۍ له‌شاوخوانه را په‌دی خوا دنهمی پیړۍ ترسره پوری څه‌نه‌څه (۷۰۰)کاله پرله‌پسی اومرتب‌کارشوی‌دی، پرته‌دگریکو بودیك د مدرسی له سبك څخه چه په‌لومړنیو آثارو کی یی شنکاره‌دی، دچینی اوهندی زیارت‌کوونکو دتگ او راتگ په واسطه او دساسانیانو دنفوذ په اثر، دسترو کوشانیانو د امپراتوری دسقوط څخه وروسته ، نور سبکونه هم هلته لیدل کیږی . دانفوذ زیاتره دبتانو دطاقونو په رنگه تصویر ونو اوسترو دیوالونو کی‌لیدل کیږی .

مثلا د سیو ژ می‌ر رب النوع چه د ۳۵ متری بت د طاق په‌چت کی لیدل کیږی دجامی او وسلی له‌مخی د مرکزی آسیا او چینی ترکستان دآثارو سره‌شباهت‌لری. یاد اعانه‌ورکونکو تصویرونه چه‌دنوموړی‌چت په‌څنډه (حاشیه) کی‌رسم شوی دی دجامی اوگانی له مخی د ساسانیانو په مهال ا تکلیدای شی یاهغه رامشتگران (موسیقی‌نوازان) چه‌په‌هوا کی الوزی دهندی لحینو مدرسو سره لکه د(اجانتا) آثار شباهت لری .

اوس‌نوددې کتنو له مخی و یلای شو چه‌دگریکو بو دیك دمدرسی روح دبامیانو په لومړنیو آثارو باندی تاثیر اچولی دی اود(۷) پیړیو پرله‌پسی کار اودبامیانو موقعیت د افغانستان دلرغونی سترې تجارتی لاری پرسرسبب‌شوی دی چه‌دبیلوبیلو مدرسو سبك هلته معمول شی ، دبامیانو صنعت‌کارانو دغه ټول مختلف‌عوامل دمحلی روح ترنفوذ لاندې را وستی او ورځخه یی یوه مدرسه جوړه کړې ده چه کولای شو هغه مدرسه (دبامیانو مدرسه) وبولو. او دغی مدرسی څه درنگه تصاویرو اوځه‌دهیکل‌تراشی‌ر له‌مخی په‌ټوله‌مرکزی آسیا بلکه‌شرق‌اقصی کې ډیرزیات نفوذ اوتاثیر کړی‌دی .

په اسلامی دوره کی (د اومی میلادی پیړۍ په سر کی ) دافغانستان په‌زیاتره صنائعو کی‌لحینی تحولات راغلل ، لومړی دنوی‌دین اوآئین دمقرراتو سره سم د هیکل تراشی او تصویر کښلو صنائع له مینځه و لاړل او ځای یی نقشو نو او صنعتی تزئیناتو ونیو چه په کوفی خطونو اوهندسی اونباتی ر سمونو اواشکالو پوری محدود ؤ . دخټگری‌ر او معماری‌ر ډول هم بدل‌شو چه دغز نویانو دوره مخصوصا د افغانستان د اسلامی دورې دصنائعو دترقی لومړی‌سر بلل کیږی ، دمعماری‌ر نقاشی‌ر کتاب لیکلو ، فلز کاری‌ر حجاری‌ر ، کنده کاری‌ر د لرگی او آجر پر مخ‌دکاشی سازی‌ر ، استنساخ ، او جنگی وسلې جوړو لوصنائعوپوره نهضت وموند . او دتصویرسازی‌ر فن په‌دغه دوره کې بیاپه غیرمحسوس ډول سره په‌ژوندی کیدو پیلوکړ، کهځه‌هم چه دمغلو دحملې په واسطه په‌شرق کې دغه‌نوی صنعتی پرمخ‌تگ‌په‌افغانستان کې ورووړو شو امادهرات دتیموریانو دکهول په رویکار‌بدلو چه‌له شاهرخ (۱۳۷۷ - ۱۴۴۷م) څخه شروع اوپرسلطان حسین بایقرا (۱۴۳۸ - ۱۵۰۶م)پای ته رسیږی بیاله سره تیزشو او خپل وروستی تکامل‌اوترقی‌ر ته ورسید، دشاهرخ‌په‌وخت کې په هرات کې‌یوه‌سترە‌صنعتی اکادمی جوړه‌شوه‌اومخصوصادمیناتور سازی‌ر نقاشی‌ر اوخوشنویسی‌ر صنائع‌خپل معراج ته ورسیدل‌داووکلمونو دبر ه اودکاشی کاری‌ر بقا یاچه تراوسه هم په‌هرات کې شته دی د دې دورې دصنائعو نمونه‌ده . کهځه‌هم چه لومړی په‌دې دوره کې دافغانستان په صنائعو باندې دچینی اومغولی اسلوب نفوذ لیدل کیدو امادسترو استادانو په کومك لکه بهزاد اونور دانفوذ حل اومزج‌شو ترڅو په پای‌کې داسی پرسبك مینځ ته راغی چه یوازې‌پخپله دافغانستان‌دی. اوپه پارس، ماوراءالنهر حتی هندکې یې نفوذ اوتاثیر کړی‌دی . باید وویل شی چه دافغانستان دغه صنعتی نهضت داروپا درنسانس له دورې سره معاصر ؤ. دافغانستان دسوزن دوزی‌دوریښم اوبدلو، زردوزی‌ر اوقالین اوبدلو صنعت هم په ټولو اسلامی دورو کې مشهور ؤ، وروسته دهرات له‌تیموریانو څخه له‌دې پیړیونه را‌په‌دې خوا چه‌دافغانستان‌صنعتی دوره شمیرل کیږی‌برسیره‌پرمحلی صنائعو نوی اوعصری صنائع‌هم لږلږترویج او، اوس دټوکر جوړولو برق، وسلې جوړولو څوکار غالی ( کار خانې) اوتخنیکی او دظریفه صنائعو ښونځی‌کارکوی اوپرله پسی په‌نوی فنی اصول مخکښی ځی .

## ۱۲-دافغانستان تجارت:

دیوه هیواد اقتصادی‌قوه دهغه مملکت‌دتولیداتو‌په‌وسعت‌پورې تړلی ده اوکوم شی چه کولای شو دهغه په‌واسطه باندې دیوه مملکت دتولیداتو اندازه مقایسه کړو تجارت یې‌دی (خارجی اوداخلی) هرڅومره چه‌دیوه مملکت تولیدات محدود اولږوی په‌هما غه‌اندازه یې‌په‌تجارت کی اختلال‌اولږوالی‌راځی‌اوپه‌هماغه اندازه یی اقتصادیات ضعیفه وی‌اوحمایې اوتقویې ته‌اړ کیږی .

تجارتی مواد پردوه ډوله دی : لومړی صناعتی تجارتی مواد یاپه بل عبارت تجارتی مصنوعی شیان، دو هم دکرهنې محصولات . تجارتی صناعتی مواد عبارت دکرهنې دموادو څخه دی چه دتکنیك په واسطه تحول کوی اودکرهنې تجارتی مواد مستقیماً دنباتاتو یاحیواناتو څخه په لاس راغلی پرته له کوم جزئی اویا دماهیت له تغیر څخه صادریږی .

ددې مملکت تجارت له ډیرو اوزدو زمانونه را په دې خوا دزراعتی تولیداتو پراساس پراختیاموند لی اودهیوادمهم صادراتی اقلام زراعتی موادو تشکیل کړی دی . دافغانستان مهم صادراتی اقلام په لاندی ډول دی:

دافغانستان صادرات څلور څانګی لری، لومړی : د حیوانی مواد وصادرات،دوهم : نباتی مواد: دریم وچی میوې څلورم : صناعتی شیان ( قالینه، لیمڅی ، ټغر، پوستین اونور) .

الف ـ دحیوانی موادو صادرات : حیوانی مواد عبارت دهغو صادراتو څخه دی چه دحیوانی محصولاتو څخه په لاس راځی. لکه وړی، پوستکی کو لمی اونور .

۱ ـ وړی : دمملکت دصادراتو له عمده اقلامو څخه یو وړی دی چه ډیره زیاته برخه یی له غرځی (غلځی) ، بادغیسی، هزارګی،ترکی اوکاکړی پسونو اولږځه یی هم له وزو څخه لاس ته راځی په ۱۹٤۰ م کال کی څومره وړی چه امریکا ته صادری اوپری وپلورل شوی (۲٦٥٦٦) منه او قیمت یی ۱۲۰،٦۱۱ ډالره وو هراتی (بادغیسی ) وړی په امریکا کی (۱۹٤۳) یوتن په ۸۲٦ ډالره بیه وې .

افغانستان که څه هم چه دمحیط داستعداد اوداوضاع دښه والی له مخی تل وړی لاس ته راوړی دی اوهمیشه یی دوړیو تجارت ته دخپلو ګاونديو ممالکو سره دوام ورکړی دی اما څرنګه چه یی پخوا وړی دعصری تجارت دمقتضیاتو او اصول سره سمی نه صادریدلی نویی ددنیا په بازارونو کی هغه مزایا او شهرت چه دافغانستانی وړیو دپاره ښایی نه شو پیدا کولای بلکه کومو پیرو دونکو به چه افغانی وړی پیرو دلی هغه به یی پاکولی اوعدل بندی(سورت) کولی اودخپل هیواد په نامه به یی صادرولی او ددنیا په بازارونو کی به یی لکه لندن، برلین، نیو یارك اونور په جعلی نومونو خرڅولی چه دادانفرا دی تجارت د سیستم ډیر لوی عیب ؤ اودهیواد ډیرو ګرانو صادراتی اجناسو ته به یی څه اهمیت نه ورکاوه، اوداکار به نورو کاوه، او ډیره زیاته ګټه به یی کوله .

دې کارډیرزیات مهال زموږ دهیواد په تجارتی مسائلو کی دوام لاره . اما ورو ورواصلاح شو اوورسته داقتصادی مؤسساتو دتشکیل څخه دافغانی وړیو په صادراتو کې هم اصلاحات وشول اول، دې اصلاحاتو سره سم دافغانستان دوړیو پیداوارو د نړی په سترو تجارتی بازرونو کې ښه موقعیت اوشهرت پیدا کړ . د«شرکت وطن» په نامه باندې دیوه صا دراتی شرکت جوړولو د وړیو دتجارت په نظم اوسمون ، اوددغو په ښه تو ګه سره عرضه کولو اودکار په یووالی ،اویوه لاس ته دهغو په سپارلو کښې ډیره ښه اغیزه وکړه ، داشرکت دپنځه میلونه افغانیو په پانګه د۱۳۱۵ کال په جنګاش کې دپنبی، وړیواوترياکو د صادر ولو دپاره اوهمدا رنګه دخلکوداحتیاج اواړتیا سره سم دروسی اوجاپانی مالونو دراوړلو (تورید )دپاره جوړ شو . نوموړی شرکت دکار په لومړی سر کې (۳،٥۰۰،۰۰۰) افغانی سرمایه یوازې د وړیو دپېرودلو دپاره وتاکله اوپه یوه کافی اندازه وړی یې خارج ته صادری کړې . او وروسته له هغه یی خپل کارته په ورو ورو توسعه ورکړه په (۱۳۱۸) او (۱۳۱۹) کال کی یی ډیر ستر کارونه پای ته ر سولی او خپل صا درات یی زیات کړی دی او دې زیاتوالی دوام وکړ ترڅو چه په ۱۳۲۲ کی دوړیو صادرات (٦۹٤٤) ټنه اوپه ۱۳۲۳ کی (۸۳۸۱) ټنه شول او ۲۰ فیصده زیاتوالی ښیی او د ۱۳۱۹ کال د صادرو شوو وړیو سره چه (۹۲۰۱) ټنه وی پر تله کیدای شی صادرې شوی وړی د هیواد له بیلو بیلو برخو څخه دی مثلا د ۱۳۲۳ کال په صادرو شوو وړیو کې هرات (۳۸۹٥) ټنه برخه لرله او لومړی مقام یی لاره او قندهار د (۱۷٤۸) ټنه وړیو په اصدار دوهمه درجه ؤ په نو موړی کال کې د مزارشریف د ولایت صادرې شوی وړی ۱٤٤۸ ټنه او دانډخوی صادرات ۱۲۱۲ ټنه وو .

د دغو وړیو له جملې څخه ٦٥۳۷ ټنه روسیی ته او پاته یې په هند و پلورل شوی دوړیو صادراتی احصایه په دی وروستیو ځو کلونو کی له ۱۳۱٥ څخه تر ۱۳۲۰ پورې په لاندی ډول ده :

| | | | |
|---|---|---|---|
| په سنه | ۱۳۱٥ کې | ٤٥۸۳ | ټنه |
| » » | ۱۳۱٦ » | ٥۱۷۰ | » |
| » » | ۱۳۱۷ » | ۱٥۷۰ | » |
| » » | ۱۳۱۸ » | ۹۲۰۱ | » |
| » » | ۱۳۱۹ » | ۳۳۲٦ | » |
| » » | ۱۳۲۰ » | ۱۲۷٤ | » |
| » » | ۱۳۲۲ » | ٦۹٤٤ | » |
| » » | ۱۳۲۳ » | ۸۳۸۱ | » |
| » » | ۱۳۲٤ » | ۲٤۱۲ | » |
| » » | ۱۳۲٥ » | ۲۷۰۸ | » |
| » » | ۱۳۲٦ » | ٥٥٦۱ | » |
| » » | ۱۳۲۷ » | ٤٦۱۱ | » |
| » » | ۱۳۲۸ » | ٤٦۱۰ | » |

په اوس و خت کې د افغانستان د وړیو جنس حتی په امریکا کې چه د وړیو ، یو ډیر ستر مستحصل او صنعتی مملکت دی داعلی جنس په ردیف کې راځی اوډیر ښکلی ټکران ورځخه چوړیدی برخلاف د پخوا چه به یی د افغانستان د وړیو پیداوار دشډلو (درشت) منسوجاتو د پاره استعمالول .

د وړیو ډولونه : د وړیو استحصال په افغانستان کې په څو ډوله دی اماډیرمشهور ډولونه یی عبارت له قندهاریو بادغسیو قرقلیو ، گډیو ، هزارگیو ، عربیو ، قطغنیو او غلځا ئیو (غرځیو) وړیو څخه دی چه د ښکلا او ښه والی له مخی هم تر ټولو څخه ښه ډولونه همدغه دی .

دوړیو ځینی ډولونه په یو ه کال کې دوه واره اوځینی یو وار د میږو او پسونو څخه لاس ته راځی ، لومړی پلا د وړیو استحصال د حمل له اول څخه د جوزا تر آخره پوری او دوهم پلا په سنبله او میزان کې کیږی د وړیو استحصال په کال کې دوه پلا یوازی د قندهاری او قرقلی جنس څخه کیږی چه په لاس راوړل شوی وړی یې دپسرلی اومنی وړی بولی .

سورت، پرې مینځل او عدل بندی : د افغانستان دوړیو پیداوارو څرنگه چه مووویل د سورت، پرې مینځلو او عدل بندی له مخی ډیر ښه رونق پیدا کړی دی پخوا به مستحصله وړی په قندهار او نورو ځایونو کې په معمولی ډنډ و کو کې پرې مینځل کیدلی او بیا به یی بی له رعایته د ننیو تجارتی معمولاتو څخه بارونه ترڼ او صادرولی به یی . خارجی شیان او کثافات به په وړیو کی بلکل پاته ؤاود وړیو ار قامو هیڅ سورت او طبقه بندی نه لرله . د وړیو اصلی رنگ به په ډنډ و کو کې بدلیده او خصوصاً سپین رنگ په شکری واوښت . دغونواقصودافغانستان د وړیو د جنسیت مزا یا او ښکلا با ا لکل له مینځه وړی وه اما اوس داوړیو دپرې مینځلو د پاره په قند هار کی دوړ یو پرې مینځلودفابریکې ډیر نوی سیستم موجود دی چه په شرکت وطن پورې اړه لری ، دنوموړی شرکت اودنورو وړیو صادرونکو تجارو صادراتی و ړی په دغه فابریکه کې داوبو په واسطه چه ۱۵-۲۰ درجې حرارت لری پرې مینځل کیږی او بیا دچلاما شینو نو په وا سطه عد ل بند ی او پرس (کیمنډل) کیږی او صادر یږی د « شر کت ویسا » صادراتی مقدارهم په همدې فابریکه کې عدل بندی او پرې مینځل کیږی شرکت شمالی اواتحادیهٔ هراتچه دوړیو صادرات لری دپرې مینځلو او عدل بندی په طرز کې یې اصلاحات کړی دی دوړیو دسورت په مسائلو کې هم اصلاحات شوی دی او له هغې جملې څخه دقندهار په ولایت کې پخوا له فنی سورت څخه هغه وړی چه دپسونو له څنگونو ، څپټو او شاؤ څخه اخستلې کیږی لومړی درجه او داورمیږه او پښو وړی دوهمه درجه دی .اورنگه اوبورې اوتورې او نورې وړی سره جلا کوی اووروسته له فنی عملیاتو څخه یې سورت اجرا کیږی .

روسیې ته دصادرولو دپاره دقندهار دولایت په سورت کې بی بی اوبی اوتورې اودپښودی اودنوموړی ولایت سورت دهنددصدور دپاره لومړی رقم سپینې اودوهم رقم رنگه اودهرات د ولایت دسورت ډولونه دروسیې دصدور دپاره د بی بی اوبی تورې اودپښورقم اودبادغیسی وړیوسورت سپینی ، رنگه اودپښو رقم دی .

برسیره پردې باید ووایو چه دافغانستان دوړیو صادرات په تدریج سره زیاتیږی لکه چه په ۱۳۱۱ کال کې ۲۸۳۸ تنه وې اوپه ۱۳۱۲ کال کې ۳۷۰۷ تنه لیدل شوې دی اما په هغه قرارداد کې چه د ۱۳۱۵ کال دغبر گولی په میاشت کې دروسیې سره وشو دافغانستان دصادراتو ډیرمهم قلم روسیی ته وړی وې چه دقرارداد اعتبار په مهال کې یوسل و څورلس زره اوه سوه اوپنځوس تنه وړی مرعی الاجراوی ددغو صادراتو په ارقامو کې دجلگه ئی «قندهاری» بادغیسی غلځایی، قره قلی، تاشقرغانی، اوقیصاری رقمونو ، نومونه اخستل کیږی چه یې سورت اوعدل بندی په ښه توگه سره شوې اوپه پای کې تحویل شوی دی دافغانستان صادراتو په ۱۳۱۹ کال کې خپل صعود ی قوس وپیمایه او په ۱۳۲۳ کال کې د جلا تجارتی ترون (قرارداد) په اساس د(سترگ انتورك) د نمایندگی اود هندی اوامریکایی کمپنیو سره دصادراتو مقدار ۹۲۲۸ تنو ته په (۷۳،۰۰۰،۰۰۰) افغانیو ورسید اوپه بدل یې هغه شیان چه مملکت ور ته اړه لرله پرودل شوی اورا وړل شوی دی دغه ډول دجنس په جنس بدلولو تجارت ډیرزیات اقتصادی اهمیت لری اودقرارداد کونکو هیوادونو د اړتیاوو دپوره کولو دپاره ډیره ښه اولنډه لاره ده چه په ۱۳۲۹ کال کې هم دهمدې جنس په جنس تبادلې په اساس دافغانستان اوځینو نورو دباندینیو هیوادونو ترمینځه ترون شوی دی .

د ۱۳۲۰ کال دجنگ ناڅ دمیاشتې څخه تر ۱۳۲۲ کاله پورې دحمل و نقل دځینو مشکلاتو له کبله د افغانستان صادرات لرې هیوادونو اومهمو تجارتی بازارونو ته ونه شول . په هند کې هم وړیو پر لږ مصرف لاره دملی بانک قرار داد، دروسیې سره چه د Clearing مال دتبادلې پر اساس ؤ کله چه روسیه جنگ ته ننوته مات شو اوخپل معاملات یې پرې کړل اودافغانستان صا درات ټول دذ خیرې په توگه پخپله مملت کې باقی پاتې شول اما وړیو لرو نکو شرکتونو دامشکلات حس کړل اوسره له دې یې ددې دپاره چه وروسته د مملکت تجارت له دې لارې څخه متضررنشی دوړیو په پلورلو اوټولولو دمالدارانو څخه په ډیرو مفیدو او گټورو اقدا ماتو پیل و کړ

اودوړیو دصادرولو دپاره نورو بازار ونو تـه هم هڅه وشوه لـکه هغه یوشـه وړی چه دنیویارك بازارتـه و رسول شوې هلته دهرات وړی یوټن په۸۲٦ دا لره وپلورل شوې .

کـه څه هم چه وروسته له جنگ څخه د وړیو په صادراتو اونورو تجارتی موادو کې ا ختلال اولځند پیښ شو اماپه ورو ورویی بیاپر اختیـا و موندله کوم شی چه ترټولو څخه‌مهم‌دی دوړیو دقـیمت لوړول دی دهغوی دجنسیت داصـلاح اوسمولو په‌ذریعه . د مرینوس دپسونووړی په دباند ینیو بـازارونو کې له دی کبله زیات قیمت لری چه ډیرې نر مې دی او پـردی او مغایر مواد هیڅ نه لری . خیری او غوړ هم لږ دی‌پکښې ټولې وړی یو لاس او یو رنگ و ی .

قره قلی : د قره قلی پوستکی د افغانستا ن له ډیرو نفیسواو مهمو پیدا وارو څخه دی چه تجارت یی د لږ والی پـه نسـبت اهمـیت لر ی‌د قره‌قولیو پسونورو زنه په افغا نستان کې ډیره ښه کیږی ، د آب و هو امساعدت ، پراخی ور شوګانې او د خلکو میلان د هغوی تر بیی ته د دی شی ډیر ستر شرطونه دی د قره‌قلی پوستکی وجه تسمیه د اوه ، چه هغه پسو نه چـه دا پوستکی ور څخه لاس ته را لځی په لرغونو زمانو کی په یوه سیمه کې چه قره گـل نو میږ ی او په آسیایی مرکزی ترکستان کې واقع دی ، او داستراخان په شاو خواکـې روزل کېدلې . او وروسته له هغه څخه د افغانستان شـمالی سیـمو ته راوستل شول . او په دی لځای کی د آب و هوا دموافقت او نورو طبیعی شرائطوله مخی د نومورو پسونو دروزنې او ،ودی د پاره زمینه‌ډیره‌ښه‌مساعده شوه ځنګه‌چه وروسته‌له څه‌وخته‌ددی لځای قره‌قلی پوستکو په مختلفو مملکتو نو کی رواج مونـدلی او وروسته له اتلسمی پیړی څخه یې پوره پرمخ تـګ کړی دې . په‌لومړی سرکې او و روسته له هغه څخه تراتلسې پیړی پورې د غه تجارت د روسیې خوا ته جریان لاره ، روسـی او یهودی تجارانو دا پوستکی د اروپا او امریکا لخپنو لځایونوته وړل ، اما وروسته له هغه څخه افغانی مالداران اوتجاران ددې قیمتی جنس په‌اهمیت پوه شول او تریوې اندازی پورې یـی د خارجی تجارانو لاسو نه لنډ کـړ ل . اما پـه دی وخت کی د پیرودونکو خواهش ز یات شو او کالنیو پیدا وارو چـندان کفایت نه کا ؤ نو یی یو شمیر ایماقی او غلځایی اونور پسونه له قره قلی پسونو سره ګډ کړل او دورګه نسل یې ور څخه واخست که‌څه‌هم چه په لومړی سر کی د خپلو خواصو اوصفاتو له مخی د غه نسـل چندانی ښکلی نه ؤ اما په ورو ورویی خواص بیا د سره ثابت شو ل او هم کالنی حاصلات پوره لوړ ولاړل‌او په ۱۳۱۹کال کی‌یی صعودی قـوس۳۱۸ ، ۲۸۰ ، ۲ عدد ته ور سید .

د قره قلی پوستکو تجارتی ویش : قره قلی پوستکـی یی پر څلورو ډولونوویشلی د ی :

۱ ـ پـرنـی ۲ ـ دوخ‌پرنی ۳ ـ فـلو ر ٤ـ جیگـت .

دانومونه پخپله اروپایی پیرودونکو قره‌قلی‌پوستکونه ور کړی دی او نن یی د هیواد مالداران هم د پوستکو دویش په وخت کی استعما لوی ، دانومونه انګلیسی، فـرانسـوی‌او ا لـمـانـی دی چـه پـه روسی تـعـریـف شـوی دې امـا په هیواد کې قره‌قلی پوستکی‌د ګل دخر نـګوالی اوخصو صیاتو له‌مخې‌ویشی چه‌مهم ډولونه یی دادی :

قلم: هغه پوستکی‌دی چه‌اوزده‌نری اومنظم یعنی‌نسبتاً هموار ګـلونه‌لری .

لبله ګـل: چه‌یې ګـلان دلوبیا په بڼه‌وی .

ماش ګـل: ترلبله‌ګل څخه‌یې ګلان کوچنی‌دی .

اره ګل: ګلان یې پرې‌کړی اوداړې ددندانې په بڼه دی

غوزه ګل: دښې دغوزې په‌څېر ستر ګلان‌لری .

کبل : ګلان‌یې ډیرستر دی | دا درې ډوله د ګل له حیثه

سوخته : ګـلان‌یې ځلانه‌لری | ترټولوڅخه په ټیټه درجه کې

جم ګـل : غیرمعین ګلان‌لری | راځـی او دفلور او جیگـیت

اونه سره جلا کـیږی . | له‌رقم‌څخه ګـنل کیږی .

درنگ‌اوخواصوویش : داویش په حقیقت کې‌دپوستکو عمومی اواصلی‌ویش دی .

سور : سور په‌حقیقت کې درنگ نه‌بلـکه دجنس بیلوالی‌دی اوعبارت له‌هغو پوستکوڅخه دی چه دوښتانو څوکـې یې براق اوځلالرونکی‌دی‌اوددې‌خاصیت له‌مخې دقره‌قلی پوستکو له‌ټولو جنسونوڅخه امتیازلری اوښه ګـنل کـیږی د سور دوری پـړه اوپښې عموماً ځلا داړې نصواری‌وی، څوځوډوله سورشته‌دی : لکه تورسور، ،ژیړسور، نسواری‌سور اوخلیلی سور .

کبودچه: تجاران‌یې‌شیرازه هم‌بولی اورنـګ‌یې سپین‌بخن شین دی .

خلیلی: عبارت له‌هغه پوستکی‌څخه‌دی چه تور ډوله‌نصواری رنګ‌لری .

شهابی : رنګ‌یې شیرچایې اوډیر زیات د توجه وړدی .

تور: هغه‌له‌اصله‌قره‌قلی‌بولی او تورمشکی‌رنګ‌لری .

قمر: داسې یوجنس‌دی چه‌دپسونوپه ملاکې‌یې یو ژېړ بخن دسپوزمیږ په‌شان‌شکل‌وی ،

بغنه: ژیړساده پوستکی‌ته وایی‌چه نامنظم ګل لری اولږ قیمت‌لری اوعموماً د قره قلی دینده پعه د اختلاط څخه دنورو جنسونو دمیږوسره پیدا کیږی .

کوم وریان چه مخکښې له حمل څخه زېږېزی او یاعمداً دمېږو دوژلو په واسطه لاس ته راځی پوستکی یې پردې پوله دی .

نازکچه: دهغه وری پوستکی دی چه لس ورځی پخوا دزېږېدلو له ورځې څخه پیداشوی وی ګل یې ډېر لنډ ، نرم او منظم وی .

تقر: له هغه وری څخه لاس ته راځی چه ۲۰ یا ۳۰ ورځی پخوا دزېږېدنې له مقرره وخت څخه زېږېدلی وی ګل یې له نازکچه څخه هم لنډ او دبخمل په څېر نرم او ملایم وی .

لېسک: ددې پوستکی وری له یوې تریوې نیمې میاشتې پورې پخوا دزېږېدنې له مهال څخه پیداشوی اوهیڅ ګل نه لری اوو یښتان یې ډېر تېت وی .

دقره قولیو لخینې احصائې دوروستیو کلونو د صادراتو له مخې په لاندې ډول دی :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| په | ۱۳۱٤ | کال کې | ۱،۵۲۲،٦٤۳ | جلده |
| « | ۱۳۱۵ | کال کې | ۱،۷۱۵،٤۹۵ | « |
| « | ۱۳۱٦ | کال کې | ۱،۷٦۹،۳۹۵ | « |
| « | ۱۳۱۷ | کال کې | ۹۱۳ ،۲۳٤ | « |
| « | ۱۳۱۸ | کال کې | ۲،۲۸۰،۳۱۸ | « |
| « | ۱۳۱۹ | کال کې | ۲،۵۷٤،۷٦٦ | « |
| « | ۱۳۲۰ | کال کې | ۱،۹۵۰،۳٤۱ | « |
| « | ۱۳۲۱ | کال کې | ۷۱۲،۰۷۵ | « |
| « | ۱۳۲۲ | کال کې | ۲،۲۲۳،۸٤۵ | « |
| « | ۱۳۲۳ | کال کې | ۲،۲٤٦،٤٤۰ | « |
| « | ۱۳۲٤ | کال کې | ۳۵۵،۲۳۵ | « |
| « | ۱۳۲۵ | کال کې | ۱٬۵۳٦،۷۱۷ | « |
| « | ۱۳۲٦ | کال کې | ۲،۳۹۵،۷۳۸ | « |
| « | ۱۳۲۷ | کال کې | ۲،۰۷۵،۰۵٤ | « |
| « | ۱۳۲۸ | کال کې | ۱،۵۸۲،۸۲٦ | « |

له پورته اعدادځخه څرګنديږی چه دقره قولیو حاصلات په (۱۳۲۲) او (۱۳۲۳) کال کې ډېرلوړې درجې ته رسيدلی؛ د افغانستان دقره قولیو پسونو شمیر نژدې ٤ ملیونو ته رسیږی د قره قولیو دپلورلو دپاره په دباندنیو بازارونو کې په مناسب قیمت سره ډېرښه ترتیبات نیول شوی دی او دقره قولیو دپلورلو نمایندګۍ په لندن او نیویارک کې افغانی قره قولی پوستکی په ډېرښه قیمت سره پلورې .

دقره قلی پوستکو پلورنه په امریکا کې ۵۵ فیصده قیمت د افغانستان دمالونو له خارج څخه پوره کوی .

د هغو پوستکو اوسط تعداد چه په دی ورو ستیو یوولسو کلونو کې په امریکا باندې پلورلی دی نژدی (۱۷۵۰۰۰۰) کیږی چه (۱۵۰۰۰۰۰۰) امریکائی ډالره کیږی ما په دې وروستیو کلونو کې دروسیې اودافریقا دجنوب غربی په پوستکو کې دفنی قوانینو دتطبیقاتو په واسطه ډېر زیات اصلاحات شوی دی نو له دې کبله فعلا د پښتونخوا پوستکی د نورو هیوادونو دپوستکو څخه ډېرلږامتیاز لری .

دقره قلیو دتکاثر منطقی په لاندې ډول دی :

اندخوی ، میمنه ، شبرغان، مزارشریف، قندوز، تاشقرغان-

دقره قولی پسونو شمیر په پورته منطقو کې په لاندې ډول دی :

| | | |
|---|---|---|
| اندخوی | ۱۲۰۰۰۰ | سره |
| میمنه | ۵۰۰۰۰۰ | « |
| آقچه | ۵۰۰۰۰۰ | « |
| شبرغان | ۳۰۰۰۰۰ | « |
| مزارشریف | ۵۰۰۰۰۰ | « |
| قندز | ۵۰۰۰۰۰ | « |
| تاشقرغان | ۱۰۰۰۰۰ | « |
| جمله | ۲۵۲۰۰۰۰ | « |

دنورومنطقو تعدادچه یې اهمیت کم او متفرقه ګڼل کیږی په صحیح ډول لاس ته نه دی راغلی. بشکاره لاکن (۲۰۰۰۰۰۰) جلده اټکلیدلای شی . او د ټولو قره قلی پسونو تعداد څه نه څه (٤۵۲۰۰۰۰) سره کیږی . دغه شمیر له یو کال څخه بل ته تغییر کوی ددې تغییر مهم عامل په خوراکې پورې تړلی دی چه د آب وهوا تر شرائطو لاندی راځی .

لکه چه په ۱۳۱۷ کال کې د مالدارنو له خولی اتیا فیصده رمې یې د ژمی د سختۍ په اثر تلف شوی دی څرنګه چه د قره قلیو د ټولو منطقو آب هوا سره ورته ده (مشابه است) نو په ټولو منطقو کې خساره ولیدله شوه . که څه هم په وروسته لسو کلونو کې د قره قلی پوستکی اصلاح شوی دی لاکن د پسونو شمیر اوس د ۱۳۱۷ کال سخت ژمی په اثر له پخوا څخه کم شوی دی .

قالینی او قالینچې : د قالینو د خصوصیاتو په باره کې مو د افغانستان دصنائعو په مبحث کې معلومات درکړی دی . قالینه یو له صناعتی تجارتی موادو څخه ده ځکه چه وړی پښیله هیواد کې په قالینه بدلیږی ډېرې زیاتی قالینی اوقالینچی خارج ته استول کیږی لاندې احصایه د قالینو اوقالینچو د صادراتو په باره کې معلومات راکوی :

| کال | د صادرو شوو شمیر | |
|---|---|---|
| ۱۳۱٤ | ٤۵۰۰۰ | مربع متره |
| ۱۳۱۵ | ٤۹۱٤۰ | مربع متره |
| ۱۳۱٦ | ٤۷۲۰۰ | مربع متره |
| ۱۳۱۷ | ۹۰۹۲٦ | مربع متره |

| کال | دصادرو شوو شمیر | مربع متره |
|---|---|---|
| ۱۳۱۸ | ۷۶۵۲۱ | مربع‌متره |
| ۱۳۱۹ | ۲۷۹۷۵ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۰ | ۵۵۳۷۶ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۱ | ۶۴۰۰۵ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۲ | ۷۲۵۲۹ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۳ | ۷۰۴۷۵ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۴ | ۹۶۷۸۲ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۵ | ۵۳۹۵۶ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۶ | ۳۰۲۱۷ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۷ | ۴۱۲۵۶ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۸ | ۷۶۲۱۸ | مربع‌متره |

قالیني او قالینچی زیاتره امریکا، اروپا اوهند ته صادریږی او یو شمیر زیاتې هم په د ننه هیواد کې پلورل کیږی،

تغر : تغر هم چه تر قالینونه زیات‌د هیوادد خلکو د منازلو فرش تشکیلوی یوه اندازه خارج ته استول کیږی. لاندی جدول د تغر د صادراتو ډول په ډول کلو نو کې‌رابنیی

| کال | صادره مقدار | مربع‌متره |
|---|---|---|
| ۱۳۱۵ | ۲۱۵۷ | مربع‌متره |
| ۱۳۱۶ | ۵۴۳ | مربع‌متره |
| ۱۳۱۷ | ۴۷۵۵ | مربع‌متره |
| ۱۳۱۸ | ۹۰۲۵ | مربع‌متره |
| ۱۳۱۹ | ۳۳۷۶ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۰ | ۱۴۷۸ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۱ | ۲۵۰۹ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۲ | ۲۷۸ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۳ | ۲۱۰ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۴ | ۰ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۵ | ۳۸۲ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۶ | ۲۵ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۷ | ۱۲۵ | مربع‌متره |
| ۱۳۲۸ | ۱۱۵۲۰ | مربع‌متره |

د میوی تجارت : افغانستان یوه میوه لرونکی هیواد دی.

پرته له مرکزی غرونو څخه (هزاره جات) تولې بر خی یی د خوږو میوو په لرلو شهرت لری. « انګور، توت، منی زرد آلو، آلو، ناک: بادام، اغوز » په کوهستان او کوهدامن (د کابل شمال) ـ ناک، گیلاس، منی په بدخشان انار، شلیل، شکرپاره، آبجوش، انځراو انګور په‌قندهار بادام، پسته خربوزه اوانګور په هرات، ـ انګور، آلو بوهی، شفتالو هندوانه اوخربوزه په قطغن په پای کې لیمو مالته، مته، سنتره او چکوتره په جلاآباد کې پیدا کیږی، د افغانستان میوه هند ته صادریږی چه زیاتره‌یی د و چې او لمدی په ډول د چمن له لارې صادریږی.

د قندهار د پښتون شرکت یو مقدار زیاته میوه له قندهار څخه پیری او هند ته یی صادروی، دغه شرکت برسیره د تازه‌او وچی میوی پر صادرولو کوشش کړی دی چه یو څه میوه‌د کانسرو په ډول هم په‌بوتلونو کې‌د ننه‌او دباندی‌وپلوری وچه او لمده میوه چه د پښتون د شرکت له تاسیس څخه پخوا بیله نظم او ترتیب څخه صادریدله اوس په فنی ډول سره سورت او صندوق کیږی بیا صادریږی، نوله دې کبله په‌هند کې دپلورلو بازارونه‌دپښتنی میوې د پاره مساعدشوې دی.

دمیوې دصادراتو احصایه له ۱۳۱۴ کال څخه تر ۱۳۲۸ کال پوری:

| کال | شنه‌ممیز | سره ممیز | بادام | پسته | هسته | آلو بخارا |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۱۴ | ۷۴۵۶۶۰ منه | ۴۱۳۵۹۰ منه | ۲۰۳۶۵۲ منه | ۲۴۹۱۶۶منه | ۱۳۱۹ منه | ۳۱۹۶۹ منه |
| ۱۳۱۵ | ۳۹۰۴۷۹۶ منه | ۳۲۸۰۱۳ منه | ۴۲۰۷۳۱ منه | ۱۶۸۴۵ منه | ۶۰۳۶ منه | ۳۳۴۷۱ منه |
| ۱۳۱۶ | ۹۴۶۴۱۷ منه | ۳۹۷۵۵ منه | ۳۷۸۵۲۵ منه | ۵۶۴۲۰۱ منه | ۱۱۶۳۵ منه | ۳۲۲۷۱ منه |
| ۱۳۱۷ | ۲۱۷۴۵۵۰ منه | ۴۴۱۰۱۰ منه | ۶۴۴۴۵۵ منه | ۱۹۷۸۹۶ منه | ۱۳۵۶۱ منه | ۴۸۶۵۹ منه |
| ۱۳۱۸ | ۱۱۵۹۱۶۴ منه | ۳۹۵۳۶۷ منه | ۴۸۳۵۸۶ منه | ۲۲۷۴۸۲ منه | ۵۴۹۰ منه | ۳۲۱۸۰ منه |
| ۱۳۱۹ | ۱۴۰۸۸۴۲ منه | ۳۵۶۱۱۳ منه | ۴۲۸۷۲۳ منه | ۲۶۲۳۸۷ منه | ۷۷۶۹ منه | ۵۳۹۲۴ منه |
| ۱۳۲۰ | ۱۴۲۳۴۱۵ منه | ۲۸۱۴۱۱ منه | ۵۹۷۱۱۰ منه | ۱۴۷۱۲۲ منه | ۱۰۱۵۸ منه | ۷۰۵۶ منه |
| ۱۳۲۱ | ۱۱۹۴۳۹۶ منه | ۲۹۴۲۶۲ منه | ۵۸۵۵۷۱ منه | ۳۳۱۶۷۹ منه | ۹۶۵۹ منه | ۲۴۴۳۰ منه |
| ۱۳۲۲ | ۷۹۷۸۴۹ منه | ۳۹۸۵۴۱ منه | ۳۷۳۲۹۴ منه | ۷۳۴۶۹ منه | ۱۱۱۷۹ منه | ۳۰۱۸۴ منه |
| ۱۳۲۳ | ۱۵۰۵۸۶ منه | ۱۷۸۳۴۵ منه | ۶۷۳۳۱۳ منه | ۲۷۰۵۰۴ منه | ۱۱۲۱۸ منه | ۵۹۲۳۴ منه |
| ۱۳۲۴ | ۱۰۱۷۲۸۷منه | ۲۶۱۱۷۳ منه | ۲۷۷۲۰۲ منه | ۳۲۹۳۷ منه | ۴۴۷۰ منه | ۴۵۶۰۱ منه |
| ۱۳۲۵ | ۱۳۷۴۹۳۲منه | ۲۶۸۱۴۷ منه | ۴۹۳۵۵۴ منه | ۳۲۷۳۷۲ منه | ۴۵۵۸۷ منه | ۲۲۹۸۹ منه |
| ۱۳۲۶ | ۸۳۷۱۵ منه | ۱۱۵۳۵ منه | ۵۷۴۲۰ منه | ۲۳۰۵۵ منه | ۲۸۵ منه | ۲۲۲۰ منه |
| ۱۳۲۷ | ۱۰۹۱۸۷۷منه | ۱۸۲۷۹۷ منه | ۶۳۲۷۵۱ منه | ۲۴۴۷۳۱ منه | ۱۱۷۷ منه | ۳۴۵۵۷ منه |
| ۱۳۲۸ | ۱۱۹۹۰۳۹منه | ۳۶۸۱۸۰ منه | ۶۴۱۷۵۷ منه | ۲۰۲۳۲۰ منه | ۸۲۲۹ منه | ۰ |

شکر پاره چه یوډول زرد آلودی اوزیاتره په‌قندهار کې پیدا کیږی ډیرزیات وچ یی هندته صادریږی .دغزنی آلو بخارا ډیر زیات حاصل او وروسته له وچولو څخه په‌داخل اوخارج کی دخرڅون‌بازار لری . منقه‌یوډول پرپراوتور پوستی انګور دی چه وچ اولامده مصرف اوصادریږی . همدارنګه انځر هم ډیرزیات په‌لاس رالځی اوصادریږی . دصادره مقدارونو احصا ئیه ئی په لاندې ډول ده .

| کال | شکرپاره | آلـو بـخارا | منقـه | انځر |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۱٤ | ۲٤۳۹۲٤ منه | ۳۱٦۹۲ منه | ۵۷۹۸ منه | ۱۹۸٦۵ منه |
| ۱۳۱۵ | ۱۳۹۸٦۰ منه | ۳۳٤۷۱ منه | ۱۱۵٦۵ منه | ۳۰۷۱۳ منه |
| ۱۳۱٦ | ۲۱۷۰۸۸ منه | ۳۲۲۷۱ منه | ۱۰٦۷۹ منه | ۲۱۷۰۸۸ منه |
| ۱۳۱۷ | ٦٦۱۸۹۸ منه | ٤۸٦۵۹ منه | ۱۳٤۲٦ منه | ۲۵٤۸۷ منه |
| ۱۳۱۸ | ۱۸۳۷۱۲ منه | ۳۲۱۸۰ منه | ۱۰۰٦۹ منه | ۳۱۰۰۷ منه |
| ۱۳۱۹ | ۸۱٤۲۰ منه | ۵۳۹۲٤ منه | ۱۸۰۰۸ منه | ٤۵۵۷۸ منه |
| ۱۳۲۰ | ٤۱۵۳۷۲ منه | ٤٤۰۵۹ منه | ۱۹٦۰۰۰ منه | ٦٦٦۹۹ منه |
| ۱۳۲۱ | ۱٤۲۱٤٦ منه | ۲٤٤۳۱ منه | ٦۸۵٦۸ منه | ۳۹٤۵٦ منه |
| ۱۳۲۲ | ۷۳۱۸٦۸ منه | ۳۰۱۸٤ منه | ۱۷٦۳۲ منه | ٦٦۲۱۸ منه |
| ۱۳۲۳ | ۲۲۳۳۷۸ منه | ۵۹۲۳٤ منه | ۲۲۲۳۵ منه | ٤٤۸۳۰ منه |
| ۱۳۲٤ | ۳۱٤۲۲۸ منه | ۳۸۰۹۱ منه | ۱۵۳۲۵ منه | ۳۹٤۱۳ منه |
| ۱۳۲۵ | ۲۰۰۲۸۰ منه | ۲۳٦٤۹ منه | ۱۷۱۲۸ منه | ٤۷۳٤۹ منه |
| ۱۳۱٦ | ۲۷۷۵۰ منه | ۲۲۲۰ منه | ۱۵۰۰ منه | ۱۸۰ منه |
| ۱۳۲۷ | ۸۳۵۰۰ منه | ۳٦۲۵۷ منه | ۱۲۱۰۳ منه | ٦۹۹۲ منه |
| ۱۳۲۸ | ۱۱۷۳۱٤ منه | ۰ | ۰ | ۰ |

د مېوې دنورو ډولونو دصادراتو احصائیه په‌څوکلونو کی په‌لاندې ډول‌ده :

| کال | انار | انګور | آبجوش | خربوزه‌اوهندوانه | آلواونوره‌تازه‌میوه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۱٤ | ۵۵۷۳۱٦ منه | ۲۷۳٤۳۰۷ منه | ۱۵۳۳۰۳ منه | ٦٦۷۸۲ منه | ۱۰٦۹۵٦ منه |
| ۱۳۱۵ | ٦۳۰۷۵٤ منه | ۱۱۰۱۷۸۱ منه | ۱۹۸۰٦۸ منه | ۱۰۳۸٤۹ منه | ۱۰۵۲۰۰ منه |
| ۱۳۱٦ | ۵۸۳٤٤۵ منه | ۱۳۲۲٦۷٤ منه | ۲٤۲۷۳۲ منه | ۱۷٦۳۱۳ منه | ۲۸۰٤۳۲ منه |
| ۱۳۱۷ | ٦۱۷۵٦۳ منه | ۱۳۳۵۷٦۸ منه | ۲۷۵۷۳۰ منه | ۲۱٤۳۲۷ منه | ۳۳۸۸۱۱ منه |
| ۱۳۱۸ | ۱۸۲۲۰۸۵ منه | ۱٤۷۹٦٦۲ منه | ۲۱۵۷٦۵ منه | ۲۰۹۰۱۰ منه | ۱٦۷۵۵ منه |
| ۱۳۱۹ | ۸۱۳٦٤۷ منه | ۱۲٦۳۹۷٤ منه | ۲۵٤۸۷۸ منه | ۱۸۸٤۰۸ منه | ۲۵۳۵۳۵ منه |
| ۱۳۲۰ | ۱۰۰۳۰۱۵ منه | ۱۲۰۹٤٦٤ منه | ۲٤۵۸۱٦ منه | ۹۷۹۸۱ منه | ۱٤۰۰٤۷۰ منه |
| ۱۳۲۱ | ٦۱۱٤٤۸ منه | ۳٦٦۹۳۹ منه | ۰ | ۱۱۷۵٤ منه | ۱۰۷۵۷۳۲ منه |
| ۱۳۲۲ | ۱۱۳۵۷۸ منه | ۱۱٤۰۵۷۱ منه | ۳۱۲۸۱٤ منه | ۳۹۹٦۳ منه | ۱٤۸۰۳۷۸ منه |
| ۱۳۲۳ | ۱۰۱۷۵۹۷ منه | ۱۰٦۰٦۰۰ منه | ۲۵۹۱۹۳ منه | ۳٤۹۲۳ منه | ۲۳۱۵٦۲٤ منه |
| ۱۳۲٤ | ۱۱۰۹۲٤۷ منه | ۱۳۲٤۰۵۸ منه | ۱۹۹۲٦٤ منه | ۱۱۵۹۳۱ منه | ۲۹٤۹۹۸۵ منه |
| ۱۳۲۵ | ۹۰۵٦۳۳ منه | ۱۹۹۲۰۷۰ منه | ۳٤۵۵۱۳ منه | ۱۷۰۲۵۰ منه | ۲۲۰۰۵۱۸٦ منه |
| ۱۳۲٦ | ۱۰۵۰۷۵ منه | ۱۰۲۰۳۰ منه | ۲۰۳۲۰ منه | ۱۲۳۰۰ منه | ۱۵۱٦۵ منه |
| ۱۳۲۷ | ٦۸۸٦۱۲ منه | ۳۰۰۸۹۳۷ منه | ۱۰۹۰۸٦ منه | ۱۲۰٦۳۷ منه | ۲۵۳۳٦۲ منه |
| ۱۳۲۸ | ۵۸۸۹۹۲ منه | ۲۸٦۰۹۰٤ منه | ۱۱۸۰۹ منه | ۱۱۸۱۸٤ منه | ۳۱۷۵۹۰ منه |

دقره‌قلی پوستکو صادرات ،دوزو اویسونووړی، پنبه، لیمځی اونورحیوانی اونباتی محصولات دهیواد دصادراتو عمده اقلام دی. دذکرشوو موادو دوروستیو څورلسو کلونو احصائیه په‌لاندې ډول ده :

| کال | قره‌قلی پوستکی | دپسونو او اوښانو اووزو وړی | پنبه | لیمځی | تغر | قالینې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۱٤ | ۱۵۲۲٦٤۳ جلده | ۷۷۱۱٤۲ منه | ۵۳٤۱ منه | ٤۷۱٤۰ تختی | ۱۲٦۸ تختی | ۱۹۷۰۷ تختی |
| ۱۳۱۵ | ۱۷۱۵٤۹۵ جلده | ۷۹٦۳۱۲ منه | ۰ | ۹۰۹۲٦ تختی | ۲٦۵۳ تختی | ۲۱۷۷۷ تختی |
| ۱۳۱٦ | ۱۷٦۹۳۹۵ جلده | ٦٦۸۵٤۵ منه | ۱۱۲۵٤ منه | ۷٦۲۱۲ متره | ۵۲۷ تختی | ۱۷٦۵۸ تختی |
| ۱۳۱۷ | ۹۱۳۲۳٤ جلده | ۷۳۱٦۲۸ منه | ۰ | ٤۷۵۵ تختی | ٤۷۵۵ متره | ۹۰۹۲۸ تختی |
| ۱۳۱۸ | ۲۸۰۳۱۸ جلده | ۲۲۲۳۸۹ منه | ۷۳۸۷٤٤ منه | ۵۸۹۸ متره | ۹۰۲۵ متره | ۷٦۵۲۰ تختی |
| ۱۳۱۹ | ۲۵۸٤۷٦٦ جلده | ۱۳۰۳۷۹۸ منه | ۱۱۵۷٤۷۱ منه | ۳۳۱٦ متره | ۳۳۷٦ متره | ۲۷۹۷۵ متره |
| ۱۳۲۰ | ۱۹۵۰۳٤۱ جلده | ٤۷۳۰۲ منه | ۳٤۳۰۵۵ منه | ۲٤۷۹ متره | ۱٤۷۸ متره | ۵۵۳۷٦ متره |
| ۱۳۲۱ | ۷۱۲۰۷۵ جلده | ۱۸۷٤۰۷ منه | ۳۹۰۱۷۲ منه | ۳۵۰۹ متره | ۲۵۰۹ متره | ٦٤۰۰۵ متره |
| ۱۳۲۲ | ۲۲۳۳۸٤۵ جلده | ۸۱۱۷۵۵ منه | ٤٤۲٤۵۲ منه | ٤۷۸۹ متره | ۲۷۸ متره | ۷۲۵۲۹ متره |
| ۱۲۲۳ | ۲۲٤٦۳٤۰ جلده | ۱۲۰۷۲۲۵ منه | ٦۱۸۳۹۱ منه | ٤۷٦ متره | ۲۱۰ متره | ۷۲۵۲۹ متره |
| ۱۳۲٤ | ۳۵۲۵۷۳۵ جلده | ۲۷٦۲۱۲ منه | ٤۰٤۸۲٦ منه | ٤٦۷ متره | ۰ | ۷۰٤۷۵ متره |
| ۱۳۲۵ | ۱۵۳٦۷۱۷ جلده | ۲۰۷۲۳٤۳ منه | ۳۲۰۸ منه | ۹۰ متره | ۲۸۲ متره | ۵٤۲۸۲ متره |
| ۱۳۲٦ | ۲۰۷۵۰۵٤ جلده | ٦۷۲۸۸۵۵ منه | ۰ | ۲۲ متره | ۲۵ متره | ۳۰۲۱۷ متره |
| ۱۳۲۷ | ۱۵۸۲۸۲٦ جلد | | | ۰ | ۱۲۵ متره | ٤۱۲۵٦ متره |

طبی نباتات : زموږ په هیواد کی لکه ینجه، شیرخشت، زیره، مرخهی، بادیان اونور ډیردی چه هم‌دننه اوهم په د باندنیو هیوادونو کی دخرڅون بازارلری .دځینو طبی نباتاتو صادرات په‌وروستیو څوکلونو کی په لاندی ډول دی :

| کال | شیرخشت | زیره | مرخهی | بادیان | تریاك | ینجه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۱٤ | ٤۷۳ منه | ۵٦٦۳٤ منه | ۱۰۸۳۰ منه | ۷۲۸ منه | ٤۱۳۸ منه | ۲۵۵۷ منه |
| ۱۳۱۵ | ۲۹٤ منه | ۵۹۰۱۹ منه | ۱۱۱۵ منه | ۷۳۵ منه | ۳۲۲٦ منه | ۲۳٤۷۸ منه |
| ۱۳۱٦ | ۷۲۹ منه | ٦۹۲٤۹ منه | ۱۱۱۰ منه | ۹٤۷ منه | ۳۹۰۱ منه | ۲۰٦۸۵ منه |
| ۱۳۱۷ | ۵۸۵ منه | ۱۹۵٤۰ منه | ۱۵۹۲۸ منه | ۷۵۳ منه | ۵۲۹۰ منه | ۱٦۷۲٤ منه |
| ۱۳۱۸ | ۲۰۹ منه | ۱۳۳۹۰۱ منه | ۲۲۷٦ منه | ۱٤۳٤ منه | ٤۰۱ منه | ۳۷۱۸۸ منه |
| ۱۳۱۹ | ۷۳ منه | ٤۷۰۳۱ منه | ۱۱۱۱۷ منه | ۹٤۹ منه | ۳۵۹ منه | ۳٤۱۹۵ منه |
| ۱۳۲۰ | ۵۵ منه | ۵٤۳٦٤ منه | ۱۲٤۸۱ منه | ۱۳۵٤ منه | ۲۷۵ منه | ۲۷۷۱۲ منه |
| ۱۳۲۱ | ۱۲٦۸ منه | ۱۰۵۷۵٤ منه | ۱۰۲٤۷ منه | ٤۸۰ منه | ۳۱۷۷ منه | ٦۰۰٦ منه |
| ۱۳۲۲ | ۸۳۸ منه | ٦۹۸۰٤ منه | ۱٤٦٤۷ منه | ۲۷۲ منه | ۱۳٤۵ منه | ۱۰۱٦۹ منه |
| ۱۳۲۳ | ۱۸۲۸ منه | ٤۳۹۸٤ منه | ۱٦۷۰۵ منه | ۳۲۲ منه | ۲۲۰ منه | ۲۲٤۲۱ منه |
| ۱۳۲٤ | ٦۹٤ منه | ۱۲٦۷۳۵ منه | ۵۷۳۲ منه | ۰ | ۲۷۸ منه | ٤۰٤٦۱ منه |
| ۱۳۲۵ | ۳٦۹۱ منه | ۳۷۷۱۲٤ منه | ۱۱۹۸۸ منه | ۳۲۸ منه | ۷۲۰ منه | ۸۰۸٦۸ منه |
| ۱۳۲٦ | ۲۲۵ منه | ٤۷۷۰ منه | ۱۲۳۰ منه | ۰ | ۳٦۰۰ منه | ۸۷۰ منه |
| ۱۳۲۷ | ۱۷۹۰ منه | ۵۰۱۵۵ منه | ۸۷۵٦ منه | ۷۸ منه | ۰۰ | ۲۱۲٤۰ منه |

کولمې: دپسونو کولمې هم دهیواد له مهمو صادراتو څخه دی. یو مخصوص شرکت د نقشبند د شرکت په نامه د کولمو د صادرولو دپاره جوړشوی او بوخته دی امریکا اواروپاته یې صادروی او خرڅوی یې. دترکیو پسونو کلمی ترټولو نه زیاتره په خارجی بازارونو کې خوښیږی او پخواله جنګ نه یې زرعده د ۹۰۰ تر ۱۰۰۰ افغانیو خرڅهدلې لکن په دې وروسته وختو کې یې قیمت زیات شوی دی. لاندینی معلومات د کولمو صادراتو په باره کې په وروستیو کلونو کې په لاندی ډول دی:

| | | | |
|---|---|---|---|
| په | ۱۳۱٤ کال کی | ٤۳۳۱۷۹ | عدده |
| په | ۱۳۱۵ کال کی | ٤۱٦٦۲۵ | عدده |
| په | ۱۳۱٦ کال کی | ۵۱۹۰٦۰ | عدده |
| په | ۱۳۱۷ کال کی | ٤۹۲۷٤۳ | عدده |
| په | ۱۳۱۸ کال کی | ۷٤۹۱۰۰ | عدده |
| په | ۱۳۱۹ کال کی | ۳۹۲۳۵۰ | عدده |
| په | ۱۳۲۰ کال کی | ٦٦۲۵۷۵ | عدده |
| په | ۱۳۲۱ کال کی | ٤۱۹۳۷۸ | عدده |
| په | ۱۳۲۲ کال کی | ۵۱۳۸٦۳ | عدده |
| په | ۱۳۲۳ کال کی | ۱۲۷۰۰۰ | عدده |
| په | ۱۳۲٤ کال کی | ۳۸٤۸۷٦ | عدده |
| په | ۱۳۲۵ کال کی | ۳۷۷۱۳۳ | عدده |
| په | ۱۳۲٦ کال کی | ۳٤۷۹۳۸ | عدده |
| په | ۱۳۲۷ کال کی | ۳٦۳۱۷۵ | عدده |
| په | ۱۳۲۸ کال کی | ۳۵۲۹۹٦ | عدده |

دپسونو اووزو پوستکی: برسیره پردې چه دپسونو اووزو پوستکی په داخل کې په ډیر ښه بازارلری او پوستین او پوستینچه ورڅخه جوړوی، حتی پنې او بوټونه هم ورڅخه جوړوی، یوزیات شمیر ئې هندته صادریږی. دپسونو اووزو دپوستکو صادرات په وروستیو کلونو کې په لاندې ډول دی:

| | | | |
|---|---|---|---|
| په | ۱۳۱٤ کال کی | ٦۳٦٤۸۷ | جلده |
| په | ۱۳۱۵ کال کی | ۱۱۵۳۰۷۹ | جلده |
| په | ۱۳۱٦ کال کی | ۱۲۲۰۵۷ | جلده |
| په | ۱۳۱۷ کال کی | ۸۵۵٦٤٦ | جلده |
| په | ۱۳۱۸ کال کی | ٦۷٦۳۱٦ | جلده |
| په | ۱۳۱۹ کال کی | ۷٤۹٤۳۳ | جلده |
| په | ۱۳۲۰ کال کی | ٤۹٤۱۷۷ | جلده |
| په | ۱۳۲۱ کال کی | ۳۷۳۳۹۷ | جلده |
| په | ۱۳۲۲ کال کی | ۳۱۰۷۹۵ | جلده |
| په | ۱۳۲۳ کال کی | ٤٤٦۷۸٦ | جلده |
| په | ۱۳۲٤ کال کی | ٤۸۸٤۵۱ | جلده |
| په | ۱۳۲۵ کال کی | ۷٦٦٦۰۲ | جلده |
| په | ۱۳۲٦ کال کی | ۳٦۵۹۰۲ | جلده |
| په | ۱۳۲۷ کال کی | ۱٤۳۵۰٦ | جلده |
| په | ۱۳۲۸ کال کی | ۹٦۳۳٦٤ | جلده |

دحیواناتو پوستکی اووړی: حیوانی پوستکی اووړی هم دهیواد مهم صادراتی اقلام دی. نن زموږ د هیواد حیوانات د نارو غیو او نه پاملر نې له کبله زیاتره مخ په تلفیدو دی، نودحیوانی محصولاتو صادراتی اقلام په څو وروستیو کلونو کې په لاندې ډول دی:

| کال | پخه څرمن | دغوائی پوستکی | بغنه پوستکی | پوستین او پوستینچه | دپسونو اووزو پوستکی | گیډه او خفک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۱٤ | × | ٤ جلده | ۱۱۷۵۷٤٦ جلده | × | ٦۲٦٤۸۷ جلده | ٤۷۵۳۰ جلده |
| ۱۳۱۵ | ۲۹۲۱۱ جلده | ٤۰۰ جلده | ۳۲۳۳۰۵ جلده | ۱۱۵۳ عدده | ۱۱۵۳۰۷۹ جلده | ۵٦۲۷۰ جلده |
| ۱۳۱٦ | ۵٦۰۸۱ جلده | ۳۵ جلده | ۵۰۰۰۲٦ جلده | ۳۷۳۰ عدده | ۱۲۰۲۰۵۷ جلده | ٤۳۱۳۲ جلده |
| ۱۳۱۷ | ٤۱۷٤۳ جلده | ٦۳۰ جلده | ۱۱۲۰۲۹ جلده | × | ۸۵۵٦٤٦ جلده | ۲۸۷۳٤ جلده |
| ۱۳۱۸ | ۳۲٦۹۱ جلده | ۸۷۹ جلده | ٤۰۳٤٦٤ جلده | ۱۹۲۱ عدده | ٦۷٦٦۱٦ جلده | ۳۹۲۲٦ جلده |
| ۱۳۱۹ | ۲۸٦۲۳ جلده | ۳۲ جلده | ٦۱۰۷٤۵ جلده | ۱۹۳۸ عدده | ۷٤۸٦۳۳ جلده | ۳٤۲٤۵ جلده |
| ۱۳۲۰ | ۳۸۲۵۸ جلده | ۵۵ جلده | ۱۲۰۸٦۹ جلده | ۱۲۳۰ عدده | ٤۹٤۱۱۷ جلده | ٦٤۵۵۵ جلده |
| ۱۳۲۱ | ٤۳۵۷۳ جلده | ۲۹۰ جلده | ۲۹۹۸۵٤ جلده | × | ۳۷۳۳۹۷ جلده | ۸۲۹۸۹ جلده |
| ۱۳۲۲ | ٤۲۵٦۱ جلده | ۱۲۵ جلده | ٤۵۷۱۷۰ جلده | ۸۲۸۷ عدده | ۳۱۰۷۹۵ جلده | ۹۵۹٤۳ جلده |
| ۱۳۲۳ | ٦۷۳٦٤ جلده | ۲٦ جلده | ۱۳٤۲۳٦ جلده | ۳۵٤۸ عدده | ٤٤٦۷۸۷ جلده | ۳۳۰٤۰ جلده |
| ۱۳۲٤ | ٤۷۱٤٦ جلده | ۱۲۵۳ جلده | ۲۱۲۹۱۰ جلده | ٤۳٦٤ عدده | ٤۸۸٤۵۱ جلده | ٤۸۳۷۲ جلده |
| ۱۳۲۵ | ۷۰۱٦۷ جلده | ۱۰۹۹۸ جلده | ۱۰۲۵۲۵ جلده | ۱۹۵۹ عدده | ۷٦٦٦۰۲ جلده | ۷٦٦٦۰۲ جلده |
| ۱۳۲٦ | ٤۹۱۰۰ جلده | ۱۱۰۵۱ جلده | ٦۸۵۱۰ جلده | ۱۳۵ عدده | ۳٦۵۹۰۲ جلده | ۳٦۵۹۰۲ جلده |
| ۱۳۲۷ | ٤۰۵٤۰ جلده | ۸٦۰۳۳ جلده | ٤۰۷۳۳ جلده | ۲۷ عدده | ۱٤۳۵۰٦ جلده | ۱٤۳۵۰٦ جلده |
| ۱۳۲۸ | ۵٦۵۱٦۷۹ جلده | ۲۲٤۷۷ جلده | ۵٦۹٦۷۹ جلده | ۱۷۸ عدده | ۹٦۳۳٦٤ جلده | ۹٦۳۳٦٤ جلده |

دمتفرقه موادو صادرات : نور متفرقه مواد هم صادر شوی دی چه دتجارت له‌مخې دیادونې اواهمیت وړدی لکه پیاز، درشقې تخم، شوتله اونور . دغه زراعتی صادرات څرګندری چه افغانستان یوزراعتی هیواد دی اویوازی دزراعت له‌لارې کولای شی چه خپل اقتصادیات اوتجارت تقویه کړی ددغو موادو دصادراتو جدول په وروستیوځو کلونو کې په‌دې ډول دی :

| کال | پیاز | درشقې اوشوتلی تخم | تمباکو | بز غنج | کونځلې | مې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۱٤ | ۲۷۷۲٤ منه | ٥۳٦ منه | ۳٦۱۳٦ منه | ۱٤۰۸۷ منه | ۱٦٥٦۸ منه | ٥۲۳۱ منه |
| ۱۳۱٥ | ۲۰۱۰٦ منه | ۲٥۲۱۱ منه | ۱٤۸۱۲ منه | ۱۷٦٦ منه | ۳٥۹٥ منه | ۷۷٤۰ منه |
| ۱۳۱٦ | ٤۲۹۸۹ منه | ۲۰۱۱۸ منه | ۱۰٤٥٤ منه | ۷٤۰ منه | ۳٥٥۸۱ منه | ۳٥٤۷ منه |
| ۱۳۱۷ | ٤٤۷۹٥ منه | ۱۲۹۷٤ منه | ۱٥٤٦۲ منه | ۱۱٥ منه | ۲۰۸۸۸ منه | ٥٤۱٥ منه |
| ۱۳۱۸ | ۲٦۸۹۳ منه | ۷۹۱٦٦ منه | ۲۰۸۸۳ منه | ۲۱۰ منه | ۹۷۳۸ منه | ۹۲٥۹ منه |
| ۱۳۱۹ | ٤٦٤٥۳ منه | ۷٤۱۱ منه | ۱٥۱۳٤ منه | ۱۰ منه | ۲۱۱٤۰ منه | ٦۹۸٤ منه |
| ۱۳۲۰ | ۱٤٥۹٦ منه | ۷۱٤٤ منه | ۱۱۲٦۰ منه | ۰ | ۰ | ۱۱۸۲ منه |
| ۱۳۲۱ | ٤۸۱ منه | ۱۷۸۷۱ منه | ۲۲۲٤۰ منه | ۹ منه | ۲۱ منه | ۲۷٦٤ منه |
| ۱۳۲۲ | ۱٤۳ منه | ۱۷۷۰٤ منه | ۲۸٤٤۳ منه | ۱۲۷ منه | ۱۷٥۸۱ منه | ۲۰۳۲ منه |
| ۱۳۲۳ | ۷٥۲ منه | ۲٤۰٤٤ منه | ۲٤٥۷۸ منه | × | ٦۰٦ منه | ۲۰٤۱ منه |
| ۱۳۲٤ | ٥۸۸ منه | ٤۳۳۹٤ منه | ۳٦۹۷۹ منه | ۱۰۸ منه | ۲۸٥۰ منه | ۸۸۸ منه |
| ۱۳۲٥ | ۸۷۱ منه | ۲٤٤۲۳ منه | ۲٤٤۲۳ منه | ۱۰ منه | ۰ | ۲٥٤٥ منه |
| ۱۳۲٦ | ۳۰ منه | ٦۷٥ منه | ۳۹۰ منه | ٦۰۹۰ منه | ٦٤٥ منه | ۰ |
| ۱۳۲۷ | ۲۷۲۰منه(دپیازوتخم) | ٦۰۸۱ منه | ٦۲۲۸ منه | ۳۰ منه | ٤ منه | ۳٦۳۸ منه |

وروسته دنړۍ له‌دوهم جنګ څخه‌زمونږ تجارت دامریکاسره پراخ شوی دی په‌تیره بیادقره‌قلی پوستکو د پلورلو دپاره تر ټولونه ښه‌بازارشوی لکه چه‌په ۱۳۲۳ کال کې یو زیات شمیر پستو کی امریکا ته واستول شول . لاندې جدول دافغانستان دصادراتو ډول په‌وروستیو څو کلونو کې راښیی :

| | | |
|---|---|---|
| قره‌قلی پوستکی | ۱۹٦۰۹۱۹ | جلده |
| قالینه | ٥۰۰ | بنډله |
| داوښ وړی | ۱۰۰ | ټنه |
| پسته | ۳۰ | ټنه |

پخواله‌جګړې څخه دافغانستان‌دمحصولاتو دپلورلومارکیټونه په‌هند ، جرمنی، جاپان ، انګلستان اوروسیه کې وو اووروسته له‌جګړې څخه نوموړی محصولات یوازې په‌هند، امریکا اوروسیه کې پلورل شوی او کیږی .

واردات : که‌څه هم افغانستان پرته دچای او سګرتو او ځینې جزئی موادو څخه دنورو زراعتی موادو در اوړلو دپاره له‌دې باندینیوهیوادونوڅخه اړه‌نه‌لری امادصناعتی‌موادو دراوړلو دپاره‌له‌خارج نه‌ډیره زیاته‌اړه‌لری. هغه اقلام چه له خارج څخه هیوادته‌راوړل کیږی په‌لاندې‌ډول‌دی .

الف. زراعتی مواد :

۱ - تور اوشین ،ای .

۲ ـ قند ، شکره (بوره)، بسکیت ، شیرینی اوکانسروې .

۳ - تمباکو ، سیګار اوسګرټ .

٤ - تورمرچ ، دطعام مساله لکه : دارچینی ، میخك، هیل، زنجبیل اونور .

٥ ـ هندی میوې : ( مته ، مالته، سنتره ، آم‌اونور)

ب ـ معدنی مواد : ښکلی‌ډبرې ، سمنت ، سیماب،سره‌زر سپین زر، او سپینه ، مس ، فولاد ، جست قلعی ، پټرول ، کیروزن ، دخاورې تیل شمع ، موبل آیل ، اسفلټ .

ج ـ صناعتی مواد: ډول‌ډول‌ماشینونه ، تیزرفتار موټرونه، لاری اونورودبنجار ګی سامان ، وسله ، کیمیایی مواد ، فنی آلات اوادوات ، دتیلیفون‌لوازم ، راډیو، دبرښنا سامان‌دواوی اود ډاکټری اوجراحی آلات اواسباب ، ورښمین اوتاری ډول ډول توکران ،ښیښې،جرابې ، نکټائی ، ختونه ، بنیان، قرطاسیه عطریات ، دښځو دښکلالوازم ، بوټان او دکور فرنیچر اونور شیان . له‌پورته اقلامو څخه څرګندیږی چه افغانستان دصناعتی موادو دراوړلو دپاره خارج ته ډیره زیاته اړه لری .

دافغانستان تجارتی مناسبات‌دخارج سره : افغانستان یوبری هیواد دی اوخلورو خواووته‌یې‌وچه‌ده اوله ګوم بحر اویابندر سره لړیکی نه‌لری ، نوځکه‌نشی کولای چه‌مستقیماً خپل‌اموال دبحر له‌لارې باندینیو هیوادونو ته یوسی اوویې پلوری، ګوم

هیوادونه چه تجارتی تبادله اوور کړه را کړه ورسره امکان لری شمال ته روسیه اوخاتیځ (مشرق) ته هندوستان دی .

دایران سره هم تجارت دو مره کم دی چه هیڅ ګڼل کیږی. مخکې دنړی له جګړی څخه دافغانستان اوروسیې ترمینځه را کړه ور کړه دجنس په جنس دتبادلې دقرارداد په اساس ټینګه وه . لاکن وروسته له جګړې څخه څه موده و څنډېده او اوس بیادهغه قرارداد په اساس چه شوی دی دغه جنس په جنس تبادله ټینګه شوې ده .

افغانستان روسیې ته زراعتی مواد استوی او په بدل یې صناعتی مواد لکه جامې، ماشینونه ، اونورشیان اخلی ، په هند کې هم دافغانستان یوه زیاته اندازه محصولات پلورل کیږی. په دې نړدې وختو کې یومقدار افغانی زراعتی محصولات په تیره بیادقره قلی پوست اوپنبه امریکاته وړل کیږی اوخرڅیږی .

دافغانستان او ګاونډو هیوادونو تر مینځه تجارتی لاړې :

الف ــ دافغانستان اوهند ترمینځه : دافغانستان اوهند ترمینځه دوه معروفی تجارتی لاری موجودې دی . یوه دخیبر دره اود ډکې لاره اوبله د«خوجك» لاره . دغه تجارتی لاړې په دې ډول دی :

دخیبر دکوتل لاره : دغه لاره دپښور څخه په ۱۱۷۰ فټه ارتفاع شروع کیږی دخیبر دکوتل څخه تیریږی او ۳۳۷۰فټه دکابل خواته امتداد پیدا کوی، اودتورخم په برخه کې افغانستان ته را داخلیږی (تورخم ۱۳٤ میله له پښور څخه لرې دی) اودډکې له لاری جلال آبادته اوبیا په کابل ختمیږی . د کابل او پښور تر مینځه (۲۰۰) میله فاصله ده اما بدې شرچه دنملې له لاړې سفروشی .مګر نن هغه نوې لاره چه له ورېښمین تنګی څخه تیریږی نژدی ۲۵ میله لاړې لنډه کړې ده ، اودغه نوې لارتر ټولو نه لنډه لار ګڼل کیږی . پخوانۍ لاره برسیره پردې چه اوزده وه له اوبوڅخه هم لرې وه اوژمی یې ډېره زیاته واوره نیوله چه ډیرزیات وخت به په واوره پټه وه. دغه لرغونۍ لار عبارت ده دلته بند اوخاك جبار دلاری څخه چه نن مترو که شوی او نوې لاره له هرحیثه د تجارت دپاره مساعده ده اوپه تګ او راتګ کې ډېره آسانی پیښوی .

ب ــ دخوجك دکوتل لاره : دغه لاره له نوی چمن څخه شروع کیږی چه دریل مرکز دی په بلوچستان کی د غه لاره د خوجك له کوتل څخه تیره شوې په قندهار باندې ختمیږی . له فراه اوهرات نه هم کولای شو چه دتجارت مال ونه قندهار ته ورسوو او بیائی دچمن له لاړې خارج ته ولیږو .

له چمن څخه تر قندهار پورې دموټرلاره ٦٥ میله اوزده ده . اوله دې لاړې نه دتجارت مال وړل کیږی .

دګومل ددرې لاره : دغه لاره هم دتاریخ اولر غونوالی له مخې اهمیت لرې دغه لاره داسمعیل خان له دیرې څخه شروع اودګومل له کوتل څخه په (۷۵۰۰فته) لوړوالی تېریږی او غزنی کتواز اوغلزائی کلات ته چه دافغانستان په خاتیځ کې واقع دی رسیږی . دغه لاره دموټرو دتېرېدلو دپاره نه ده مساعده یوازی کوچیان خپل مالونه د آسانو په واسطه په دې لاره و ړې ، موټرونه اولاری نه ور باندې تېریږی .

دپیوارد کوتل لاره :له پاړه چنار څخه په لوړوالی د(۵۷۷۰فته) شروع او دکرمی ددرې له لاړې داشتر ګردن اوپیوار په امتداد دلوګر ولدی ته داخلیږی او بیادتنګی و اغجان د تنګی اوچهار آسیاب له لاړې کابل ته داخلیږی .

دالاره دآسونو اواوښانو لاره ده اوترلوګر پورې امتداد لری اوله هغه لحایه څخه دموټرو لاره دکابل خواته تللی اوپه کابل ختمه شوی ده . دشتر ګردن دکوتل دډېرې ارتفاع له امله دالاره په ژمی کی ډېره زیاته واوره لری. پاړه چنار له کابل څخه سل میله لرې دی .

کابل اوګردیز : یولوی سړك له کابل څخه د جنوب خواته تر ګردیزه اوله هغه لحایه څخه تر اورګونه پورې تللی دی چه دتجارت او داخلی اړیکو دپاره استعما لیږی .

کابل ،قندهار اوقلعۀ جدید «نوی کلا» : کابل اوقندهار راسا دیوه لوی سړك په واسطه چه له غزنی، مقر اوکلات څخه تېریږی سره اړیکی لری . دمیدان له برخی نه یونوی سړك د کابل او قندهار له لاړې جلا شوی دی د لویدیځ خواته تر بهسودو اود خاتیځ خواته تر لوګره پورې تللی دی .له غزنی څخه یوسړك دګردیز خواته او یوبل له قلات څخه تر هوتکو پورې تللی دی .

د قندهار او سپین بولدك سړك د موټر یسن د کمپنۍ دانجنیرانو په ذریعه کښل شوی دی او سورور (عریض) او نوی سړك دی .

دقندهار موجوده لاره له قندهار څخه دفراه او بیا دهرات خواته تللی اودبکوا اوفراه له دښتو څخه تېریږی چه په بارانی موسمونو کې تیریدل هم ورڅخه بې ربړه نه دی .

کابل او مزارشریف، کابل اوخان آباد : دکابل اودهیواد دشمالی ولایتو نو وصلول دیو موټر رو سړك په واسطه یوډیر مهم اومفید کاردی چه دشهید اعلیحضرت دسلطنت په وخت کی هغه مهال دتجارت دوزارت ترکښتنی لاندې جوړ شوی دی . اودلومړی بلاد پاره په دغه نوی سړك چه دشکاری درې په نامه یادیږی په ۱۳۱۲ کال کی دموټرو تګ او را تګ دکابل اوقطغن او مزار شریف ترمینځه جاری شو . دغه نوی سړك دغور بند له لاړې

د شپبر دکوتل‌تر بیخه پوري ځی اوله هغه ځا یه څخه د شمال خواته ګرځی او ورو سته دهندوکش د قطع کولو څخه شکاری درې ته‌ورننوځی اودوآب میخ زرین ، تاله او برفك ، دوشی، کیلګی‌اود کیلګی‌دښته‌طی کوی بیا پلخمری‌ته‌ور داخلیږی چه‌هلته بیا پخپله دپلخمری په‌شارکې (دچوك په‌چهارراهی کی ) سرك دوه‌برخه کیږی یوئې له کابل‌نه میخامخ خان آباد ته‌ځی اوبل یې دپلخمری دبرق له پله څخه تېر یږی ورو سته له څه فاصلې دهنې غوری‌ته‌رسیږی اوله‌هغه‌ځایه څخه‌مخ په‌شمال غرب دایبکو له‌دښتی او سمنګان اوخلم‌څخه بیامزار ته‌ځی د شکاری سرك دهیواد په تجارت اواقتصادیاتو کې‌دیرزیات اهمیت‌لری ، دافغانستان‌شمالی‌تجارتئی چه‌پخوا‌له‌هغه‌څخه دکوتلونو اودرو دپیچومو‌له‌لارود آسونواواوښانو په‌واسطه په‌دیر برا‌وتال‌اوځنډ سره‌ئی‌صورت‌مونده، کیدودهنداوارو پابازارونو ته‌خلاص کړی‌دی. له‌مزارشریف څخه‌تر، ترمزه اوله‌خان‌آباده تر بدخشانه پوري هم دموټرونو دتګ سرکونه تللی‌دی .

هرار اومزار اوخان آباد :دافغانستان په شمالی برخه کی یوسترسرك موجود دی چه‌له هرات څخه شروع شوی اوله‌هغه ځایه‌څخه میمنی، اندخوی ،مزار شریف ، قندهار، خان آباد او فیض‌آباد ته‌تللی‌دی . او دهغه ولایت ټول مهم تجارتی مراکز سره و صلوی .

کابل، هرات : یوبل‌سرك له‌بامیانو څخه‌دډولت یار په‌لارې هرات ته تللی‌دی ، څرنګه چه د هیواد له مینځه تېر شوی دی نو‌بې‌اهمیته هم نه‌دی .

دحمل‌ونقل ذرائع: دتجارت‌دمال دحمل‌ونقل ډیره ښه ذریعه په‌افغانستان کې لاری‌دی چه ددا‌خلی اوخارجی تجارتی نقطو ترمینځه په‌منظم‌ډول حرکت کوی برسیره پردې دهیواد په‌ځینو غرنیو برخو کې دیابو ګانو اواوښانو کاروانونه‌هم کار کوی چه‌دتجارت دمال‌په‌حمل‌ونقل کې‌ډیرسترخدمت کوی . په‌جلال آباد اودشمال مشرق‌په‌غرنیو برخو کی چه عبارت‌دبدخشان ، پامیر اوواخان له‌سطح‌مرتفع‌څخه‌دی غوائی اوخش ګاوهم دحمل‌ونقل دپاره په کاراچوی لکن‌ورځ په‌وزځ د موټرو شمیر زیاتیږی اوزیاتره حمل‌ونقل دموټرو‌په‌واسطه کیږی .

دهیوادددمختلفو نقاطو‌ترمینځ‌فاصله په‌لاندې‌ډول‌ده :

| | | |
|---|---|---|
| له‌پښور څخه ترکابله .دلته بندد کوتل له‌لارې | ۲۰۰ | میله |
| له‌پښور څخه‌ترتورخمه(افغانی‌سرحد)پورې | ۳۱ ۱/۲ | میله |
| له‌تورخم څخه ترجلال آبادپورې | ۴۹ | میله |
| له‌کابل‌څخه ترقندهاره‌پورې دغزنی له‌لارې | ۳۱۵ | میله |
| له‌کابل نه‌ترغزنی‌پورې | ۹۰ | میله |
| له‌قندهاره ترنوی‌چمن پورې | ۶۵ | میله |
| له‌قندهاره ترهراته دفراه‌له‌لارې | ۴۰۷ | میله |
| له‌کابل ترچاریکارو | ۴۰ | میله |
| له‌کابل تربامیانو دشپبر له‌لارې | ۱۴۵ | میله |
| له‌کابل‌تر پلخمری‌دشکاری له‌لارې | ۲۵۴ | میله |
| له‌کابله تر بغلانه | ۲۷۴ | میله |
| له‌کابل ترخان آباده | ۳۲۳ | میله |
| له‌کابل ترقندز پورې | ۳۳۹ | میله |
| له‌کابله ترحضرت امام‌پورې | ۳۸۵ | میله |
| له‌کابله ترمزارشریف‌پوری | ۳۸۹ | میله |
| له‌کابله تربلخ پورې | ۴۰۱ | میله |
| له‌کابله ترمیمنې دمزارشریف له‌لارې | ۶۰۷ | میله |

دهنداوافغانستان‌ترمینځه‌تجارت: دافغانستان اوهند ترمینځه تجارت‌یوازی‌هماهغه‌دواړو هیوادونو مالونه نه‌دی چه صادراو واردیږی بلکه‌دنوروهیوادونومالونه‌هم‌دهنداو پاکستان‌له‌لارې افغانستان‌ته‌راځی اوله‌افغانستان‌څخه‌هم له همدې لارې نورو هیوادونوته صادریږی ،یعنی‌هنداو پاکستان دافغانستان او نورو هیوادونو ترمینځ‌یوه ترانزیتی لاره‌ده .

د ټولو تجارتی‌مالونوقیمت‌دهند اوافغانستان ترمینځه۴۶کاله پخوا‌یعنی‌په ۱۲۸۳ کال یوازی د(۱۷،۱۸۹،۰۰۰)په‌شاوخوا کی ډ دواردا‌تو داحصائیی ځینی‌اقلام‌له۱۲۷۹ کال‌څخه تر۱۲۸۳کال پوری په‌لاندې‌ډول دی .

صادرات هندته:

| | | |
|---|---|---|
| په۱۲۷۹ کال کی | | ۵،۴۹۱،۰۰۰ قلمه |
| په۱۲۸۰ کال کی | | ۶،۲۴۴،۰۰۰ قلمه |
| په ۱۲۸۱ کال کی | | ۴،۵۹۱،۰۰۰ قلمه |
| په ۱۲۸۲ کال کی | | ۶،۶۲۳،۰۰۰ قلمه |
| په ۱۲۸۳ کال کی | | ۶،۰۹۸،۰۰۰ قلمه |
| واردات افغانستان‌ته : | | |
| به۱۲۷۹کال کی | | ۱۲۹،۰۰۰ ،۵قلمه |
| په۱۲۸۰کال کی | | ۷۰۹۰۰۰ ،۶ قلمه |
| په۱۲۸۱کال کی | | ۷۵۶،۰۰۰ ،۷ قلمه |
| په۱۲۸۲کال کی، | | ۷،۰۶۰،۰۰۰ قلمه |
| په۱۲۸۳کال کی | | ۱۰،۵۶۶،۰۰۰قلمه |

دغه صادراتی اقلام په‌پورته کلونو کی عبارت له ینجی ، وچو اوتازه میووغوړی، وربښم ،وړی ،پوستین،خامه‌څرمن ، قره‌قلی معمولی پوستګی،قالینی،طبی نباتات اونوردی او په‌بدل کی‌تاری اووړین‌توکران، تار، چای،قند،نیل، چینی،پخه‌څرمن‌دبنجارګی اوښکلا سامان ، افغانستان ته راتلل برسیره پردی تریاك دچارتراشو لرګی ، او کانی‌موادچه‌مالګه‌هم پکښی داخله ده دحکومت‌ترانحصار اومراقبت‌لاندې لېږل کېدل .

یوله تجارتی خصوصیاتو څخه دافغانستان اوهند تر مینځه دترانزیتی مالونو پراختیاده چه له نورو هیوادونو څخه دهند اوپاکستان په لاره افغانستان ته رالحی. هغه مالونه چه له هند څخه افغانستان ته رالحی یوازی دهند مصنوعه اجناس نه دی بلکه دنورو هیوادونو مالونه هم دی چه دهند په لار افغانستان ته راالحی برسیره پردې نورمالونه هم پکښې داخل دی چه هند ته داخلیږی اوبیا افغانستان ته رالحی .

دافغانستان اوهند تجارت له ۱۳۱۸ کال څخه تر ۱۳۲۳ کال پورې دکلدارو دلك له مخې :

| کال | دافغانستان واردات | دافغانستان صادرات | جمع |
|---|---|---|---|
| ۱۳۱۶ | ۲۱۶ . . . | ۳۷۱ . . . | ۵۸۷ |
| ۱۳۱۷ | ۲۱۵ . . . | ۲۴۹ . . . | ۴۶۴ |
| ۱۳۱۸ | ۲۶۹ . . . | ۳۹۷ . . . | ۶۶۶ |
| ۱۳۱۹ | ۳۰۶ . . . | ۳۹۰ | ۸۹۶ |
| ۱۳۲۰ | ۳۲۹ . . . | ۶۲۴ | ۹۵۳ |

پورته اعداد یوازی دپرتله کولو دپاره دی . ددغو له مخې معلومیږی چه په ۱۳۱۶ کال کې صادرات د ۳۷۱ لکه کلدارو په شاوخوا کې وو اوپه ۱۳۲۰ کال کی ۶۲۴ لکه ته رسیدلی دی دواردا تی اوصادراتی تجارتی مالو نو قیمت په ۱۳۱۶ کال کی ۵۸۷۰۰۰۰۰ کلداری ؤ او په ۱۳۱۷ کال کی ۴۶۴۰۰۰۰۰ کلدارو ته تیټ شوی دی ، ددې تیټېد و سبب د نړۍ اقتصادی بحران په ۱۳۱۷ کال کی و. د قره قلی پوستکو دقیمت لویدل د پلورلو په دباند ینو بازار ونو کی او د افغانستان د میوی د قیمت لویدل په هند کی اوددغی میوی انحصاریدل د قیمت د لږوالی سبب شوی دی په نتیجه کی د افغانی پیسو قیمت هم په خارج کی بی اغیزی پاتی نه شو او ولویدو په دغه وخت کی د افغانستان ملی بانک ډیر ستر کارو کړ او د افغانیر د قیمت لو یدلو مخه یی ونیوله او په دغه کار کی بی د بریالی ټوب د پارره د وارداتو اوصادراتو ترمنځه یوه معادله ټینګه کړله یعنی واردات یی لږ او صادرات یی زیاد کړل ، دتجارتی د تبادلو د کنترول قوانین وضع او په نتیجه کی د هیواد په اقتصادی وضیعت کی اصلاحات و کړل شول. په ۱۳۱۸ کال کی د تجارتی اموالو مجموعی قیمت (۶۶۶۰۰۰۰۰) کدارو ته ورسید . د مالونو د قیمت په جګولو کی یوازی د ملی بانک اجراآت چه عبارت د صادراتو او وارداتو دمعادلی دساتلو څخه دی نه ؤ مو ثر بلکه د افغانی مالونو د قیمت لوړیدلو په هند کی هم پکښې د خل لاره سره د قیمت له لوړیدلو هم باید وویل شی چه د صادراتی او وارداتی مالونو په اندازه او مقدار کی د جګړی په وخت کی ډیر زیات توپیر را نه غی ځکه چه په انګلستان او نورومتحارب هیواد نو کی د عمومی مصرف په مقدار کی لږوالی راغی او بحرونه هم د محاربی او جګړی ترقید لاندی راغلی وو او تجارتی بیړیو په آزاد ډول سره حرکت نه شو کولای .

د صادراتو او وارداتو د پورته اقلامو له مخې خه ګنډیږی چه وروسته له ۱۳۱۷ کال څخه په صادراتو کی نسبت ووارداتو ته زیاتوالی راغلی دی او دا له دی کبله چه په وروسته کلونو کی کوشش وشوو تر څو په صادراتی مقدار په تیره بیا قره قلی وړې ، پنبه او پوستکی کی زیاتوالی راشی .

اوله بلې خوائی په وارداتی قلمو و لکه نجی خارجی تو تی ، بوټ ، قند اوداسی نورو درونده محصول کښود چه له یوې خوا نه صادرات پر وارداتو زیات شی اوله بلې خوا وطنی مالو نه وپلورل شی . یوه اندازه صادراتی مواد چه لاندې لیکل کیږي دهغو داهمیت په اعتبار ترتیب شویدی ، دنوموړو موادو دمقایسی له مخې څر ګنډیږی چه قره قلی او نور ډول پوټکی چه په لومړی قلم کښې راوړل شویدی دشمیراوقیمت په لحاظ نسبت نورو قلمونو ته خورامهم دی او په ټولو صادراتو کښې په سلو کښې (۵۰) دی چه له جګړی نه مخکښې ئې په انګلستان کښې مارکیټ درلوداوله جګړی وروسته ئې په امریکا کښې دخرڅیدو دبازار میندلی دی ، په پوستکو پسې بیاوچی اوتازه میوی اوزړی دی چه دهغوی بیه دپوټکو دبیې دریمی برخې ته رسیږی ، که څه هم میوی د هندله لارې نورو ممالکو ته هم ځی خو پخپله په هند کښې هم ډیری زیاتی مصرفیږی. دافغانستان په ټولو صادراتو کښې دپوټکو او میوی صادرات په سلو کښې (۸۵) دی خولو کس اوغوره قلمونه صادرات لکه دقره قلی پوټکی تل له تغیر سره مخامخ دی ، د جګړی په وخت کښې ئې په پلورلو کښې مشکلات پیدا کیږی ، ځکه چه پیرو دونکی ممالك چه په جګړه اخته وی لوګس مالونه نه اخلی له پوټکو اومیوو نه وروسته نور صادراتی قلمو نه وړې ، پنبه قالینې ټغرونه او نوردی .

په هند کښې افغانی صادرات د کلدارو په بیه دلك په‌مقیاس :

| صادر شوي‌مالونه : | په۱۳۱۷ کال | په۱۳۱۸کال کښې | په۱۳۱۹کال کښې | په۱۳۲۰کال کښې | په۱۳۲۱کال کښې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ ـ قره‌قلی‌او نور پوټکی | ۲۳۹ کلداری | ۱۱۱ کلداری | ۲۵۰ کلداری | ۳۹۳ کلداری | ٤۰٦ کلداری |
| ۲ ـ مېوه ، زړی‌او نور ددواړو قلمونو برخه | ۹۸ کلداری | ۱۰٦ کلداری | ۸۹ کلداری | ۱۰۸ کلداری | ۱۳۰ کلداوی |
| دصادراتو په‌فیصدی کښې | په‌سلو کښې ۸۵ | په‌سلو کښې ۸۷ | په‌سلو کښې ۸۵ | په‌سلو کښې ۸٦ | په‌سلو کښې۸٦ |
| ۳ ـ اوبدلی‌وړی ـ لکه بوستین قالینې اوداسی نور | په‌سلو کښې ۷،۵۵ | په‌سلو کښې ۱۱،۵۰ | په‌سلو کښې٦،۳٤ | په‌سلو کښې۳،٤ | په‌سلو کښې،۲۲ |
| ٤ ـ ژوندی‌څاروی | په‌سلو کښې۱۰،٤۳ | په‌سلو کښې۸،۹۹ | په‌سلو کښې۱۱،۱۸ | په‌سلو کښې۰،٤ | په‌سلو کښې ۰ |
| ۵ ـ پنبه | په‌سلو کښې ۲،۹٤ | په‌سلو کښې۸۵، ۳ | په‌سلو کښې۳،۳٦ | په‌سلو کښې٤۱ | په‌سلو کښې۳۳ |
| ٦ ـ اومی‌وړی | په‌سلو کښې ٦،۷۵ | په‌سلو کښې۱۱،۵۰ | په‌سلو کښې٦،٦۰ | په‌سلو کښې ۲۰ | په‌سلو کښې۳۱ |

دهند له‌لاری دافغانستان‌واردات: له۱۳۱۷ کال‌نه‌تر ۱۳۲۱ کال

پوري برسېره دهند دمالونو دصادراتو په‌قلمونو ، نور خارجی اجناس هم‌دهندله‌لاری‌افغانستان‌ته‌راوړل کېږی چه‌ددغوقلمونو څخه ځینی دترانزیتی ترقانون لاندی راځی اوځینی‌نه‌راځی، له لاندې شمیر نه‌دهغومالونوډولونه اوخصوصیات چه‌دهند له‌لاری اویا پخپله له‌هند نه‌افغانستان ته‌راځی معلومیږی :

| کال | هندی مالونه | د کلدارو په بیه |
|---|---|---|
| ۱۳۱۸ | | ٦۰۸٤۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۱۹ | | ۵۰۷۰۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۲۰ | | ۷۲۷۹۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۲۱ | | ۹۸٦٤۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۲۲ | | ۲۱٦۹۰۰۰ کلداری |

خارجی غیرهندی مالونه

| کال | غیر ترانزیتی | ترانزیتی |
|---|---|---|
| ۱۳۱۷ | ۱۷۱۸۰۰۰ کلداری | ۱۲۸۰۳۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۱۹ | ۲۷۰۷۰۰۰ کلداری | ۱۳۰۹۳۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۲۰ | ۱۲۲۰۰۰۰ کلداری | ۱۷۵۸۸۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۲۱ | ۷٦۰۰۰۰ کلداری | ۱۹۱۳٦۰۰۰ کلداری |
| ۱۳۲۲ | ۷۱۲۰۰۰ کلداری | ۱۰۲۷۸۰۰۰ کلداری |

د۱۳۲۰ و ۱۳۲۱ کلو په‌منځ کې چه کوم خار جی مالونه دهند نه‌افغانستان ته‌راغلی‌دی هغه دټولوراغلیومالونو نه په سلو کښې ۳۳ دی اوحال دادی چه دجګړی نه‌لومړی اوحتی چه له جګړی نه‌یو دوه کاله وروسته دخارجی‌ممالکو نور مالونه چه‌د هند له‌لاری (دهند ترانزیت) افغانستان ته‌راغلی‌دی هغه په‌سلو کښې له ۵۰ نه زیات ؤ ( ټول راغلی مالونه‌په‌سلو کښې۵۰) په۱۳۱۹ کال کښې‌څه‌ناڅه‌ټول تجارتی مالونه په‌سلو کښې ۷۰وو که څه‌هم افغانستان دجګړی‌په‌موده کښې‌بیطرفه‌ؤ اوځان‌ئې ددنیا دجګړی له‌ضررونوځخه په‌ځنګ ساتلی‌ؤخوسره‌له دې‌هم‌جګړی تجارت اوداقتصادی‌پلانونو وړاندې تګ ته ډېرتاوان‌ورساوه .

دروس اوالمان جګړی او یا په جګړه کښې دجاپان داخلېدو دمالو دخرڅولو مهم بازارو نه‌اودخارجی‌وار داتو مهم ځایونه ( جاپان او جرمنی) په افغانی تجارت بند کړل .

جاپان د افغانستان د وارداتی او صادراتی ممالکو په‌جمله کښې ؤ خو هر کله ئې چه مالونو د هند له‌لاری‌افغانستان ته‌راللل له ۱۳۲۱ کال نه د دواړو مملکتو په منځ کښې د اجناسو ، صادراتو او وارداتومبادله بنده شوه اوبله دا چه دوړو راوړو بیړی ـ لنډې وی نو د مالو د راوړلو د ځنډ مهم عامل‌داهم‌ؤ ، نو د همدی واقعاتو له کبله جګړی په کلونو کښې هندی تجارتی مالونه زیاتره افغانستان ته وارد شول . خو هر کله چه پخپله په هند کښې‌دجګړی له کبله د ضروری‌شیانوتولید لنډشونو دهندی مالونوحصول په هغه زیانه اندازه چه په‌هماغه وخت کې داستفادی‌وړوو ، ممکن نشو ؛ مثلا پخپله په هند کښې ځینی‌مخصوص قلمونه‌لکه پطرول کالی ( البسه ) اوبوره چه دهغه‌ضروریات ئې پوره کړی وای لنډشول ، سره له دې هم په۱۳۱۸کال کښې‌هندی مالونه څه ناڅه د(٦۱۰۰۰۰۰) کلدارو په‌بیه‌ؤ اوددنیا دجګړی په‌کالونو کښې ئې‌بیه (۲۱۷۰۰۰۰۰ ) کلدارو ته‌جګه‌شوه یعنې‌له‌ډېرې‌چنده زیاته شوه .

دافغانستان دضروریاتو دمهمو تجارتی موادو منابع : دهغو ارقامو له‌منځې چه‌لاندې‌ښودل کېږی له۱۳۱۸کال نه‌تر۱۳۲۲ پوری‌دافغانستان‌دپاره‌دتجارتی‌موادومهم‌منابع ښه‌څرګندیدلای شی دامالو ه‌دهندله‌لاری‌افغانستان‌ته‌راغلی دی که‌څه‌هم شوروی روسیه دافغانستان دضروریاتو دپاره مهمه‌منبع‌ده خوله هغه‌څخه دکافی‌وارداتو په باره کښې کومه احصائیه په لاس کښې نشته افغانستان‌ته له‌روسیې‌نه وارداتی مواد نخی‌توتی ، بوره ، پترول وریښمین توکی، چینی، کلوشی اوداسی نوردی .

د لاندی احصائی درقمونو له‌منځې لـه خارجی مما لکونه دافغانستان دوارداتی تجارت اندازه اټکل کېدای شی :

| مملکت واردات | دزرو کلـدارو دمقیاس لهمخې قیمت | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| کال | ۱۳۱۷ | ۱۳۱۸ | ۱۱۱۹ | ۱۳۲۰ | ۱۳۲۱ |
| جاپان | ٦۲۹۱ | ٥۷٦۲ | ٦٤۷۷ | ۱۰۱۰۰ | ٥۹۷٤ |
| هند | ٥۹۸۲ | ٥۰۷۰ | ۷۲۷۹ | ۹۹۳٤ | ۲۱۱٤۰ |
| جرمنی | ۱۲۰۲ | ۳۷۱۰ | ۱۷٦۳ | ٥۱٦ | ٦ |
| برما | × | ۲۱۳۹ | ۱٤۳٤ | ۱٤٦۱ | ۲۰۳ |
| انګلستان | × | ۱۳٥۷ | ۲٤٤۷ | ۱۰۲٤ | ۷٤٤ |
| امریکا | ۹٥۸ | ٦۹۸ | ۱٤۷۹ | ۱۷۱٤ | ۲٦۷٤ |

تر ۱۳۲۰ کال پوری جاپان دپورتنۍ احصائیې لـهمخې اولـه درجهؤ،اوکله‌چه د۱۳۲۰په کال‌جدی کښې‌جاپان‌په‌جګـړه کـښې داخل‌شو نو صادرات‌ئې کم‌شول چه‌په پای کـښې بیخی بند شول اودجاپان په عوض په ۱۳۲۰ او ۱۳۲۱کلو کښې هند داولیت مقام‌ونیو افغانستان ته‌دجګړې څخه مخکښې دامریکی واردات ډیر کم‌ؤو ، له‌جګـړې وروسته ئې خپـل مالونه دافغانستان په مارکیټ کښې زیات کړل .

هغه‌لس‌قلـم مـالـونه چه‌په۱۳۱۸او۱۳۲۰کال کښې‌له‌هندنه افغانستان‌ته راغلی‌دی په لاندې ډول دی :

بیه‌دزرو کلدارو په‌حساب

| ۱۳۱۸ کال | | ۱۳۲۰ کال | |
|---|---|---|---|
| پنبئی منسوجات | ۲٦۲۳ | پنبئی منسوجات | ۹۹۱۹ |
| شاروی | ۷۹۱ | قند، بوره | ۳۰۱۸ |
| چای | ۳٥۱ | چـای | ۱۹۳۷ |
| بوټ | ۱۷۰ | دموټروتیل | ۱۹۳۷ |
| پخی څرمنې | ۱۷٦ | بوت | ٥۱۷ |
| سیمنټ | ۱٥۹ | اوسپنه اوپولاد | ٥۱۲ |
| اوسپنه اوپولاد | ۹۰ | وریښمین توکی | ٥۰۰ |
| وریښم | ٤٤ | کاغذ | ۳۰۸ |
| بوره‌او قند | ٤۱ | پخی‌څران | ۲۹۹ |
| ماشین | ۳ | سنډ | ۲۱۰ |

پنبئی توکی په۱۳۱۸کال کښې په‌لومړی ډله کښې درپښی اووروسته هم داځای نیسی افغانستان دخوراکی موادو په باب کښې‌بخیلو تولیداتو باور لری خودپښې دتوکو په باره کښې سره له‌دې‌چه‌دوه فابریکی هـم لری خارج‌تـه اړدی او زیات توکران‌دخیلواړتیاووپوره کولودپاره‌له‌خارج‌څخه‌راوړی او دغه رختونه په‌تولو وار داتوکښې په‌سلوکـښې ٤۰ دی د نو وړو قلمونوڅخه علاوه هندځینې نورشیان هم افغانستان ته رالېږی لـکه ډول ډول ماشینونه ، دښجارګـی سامان دکور اسباب کیمیاوی مواد سپنسی اونوار ،دواګـانی ، عطریات ،ډول‌ډول رنګونه، میوی ،ښیښی ، دپخوځرمنوسامان، ډول‌ډول‌تهل‌کانسرو شوی‌میوی،مسالی ،وړین‌سامان، سګرټ، دسپورت‌سامان‌او نور .

بوټ ،سمنټ ،پخه څرمن خاص له هند څخه افغانستان‌ته‌رالځی خودجګړی دپیښو‌له‌املـه بوره‌هم دهندی فابـریکو له‌محصولاتو څخه افغانستان‌ته راتله خو په‌عمومی ډول‌بوره له جاوا اوروسیې نه‌افغانستان‌ته راوړه کـېږی ، په‌کابل کښې‌د بوټانو ګـنډلو‌یوه فابریکه‌شته‌خو په‌په زیاته اندازه له خارج‌څخه راوړل کیږی . دافغا نستان دپاره د خارجې ساخت دځرمنو د سامان محصول په‌سلوکښې ۳٥ قیمت‌لری اوپه‌سلوکښې (٥۰) هغه بوټان چه‌په چرمو اوزرو ګنډل شوی وی اوښې څرمنی چه‌په افغانستان کښې نه‌جوړیږی‌له‌هند څخه‌رالځی .

دمملکت دجنوبی اومشرقی ولایاتو دضروری‌مصرف سمنټ له‌هندڅخه‌رالځی اوله‌روسیې نه‌هم‌سمنټ رالځی، چه‌هغه‌دافغانستان په شمال غرب او شمالی ولا یتو کښې لګېږی . په ۱۳۱۷ او ۱۳۱۸کال کښې ډیر زیات سمنټ راتلل خوبیا دجګړی له‌املـه په وړو وړو لېږ شول ، ترکومه‌وخته چه‌جاپان په جګړه کښې داخل‌نه‌ؤ نو نځی ټوکران ډیر له‌هغه ځایه راتلل ، اوهندپه‌دې قلم‌کښې دوهمه درجه ځ خو چه‌جاپان په جګړه کښې داخل‌شو، هندپه لومړی درجه کښې‌شو اوتر اوسه‌پورې همدغه لومړی مقام‌لری ،که‌څه‌هم دوطنی توټو د صنعت د پراخوالی په غرض دافغانستان له‌خوا پرخارجی مالوباندی دروند محصول ا ینبود شو یدی .

تو ر چا ی خا ص د هند له محصولاتو څخه دی دجګړی نه‌پخوا ،شین‌چای له‌چین اوجاپان‌نه‌افغانستان ته‌راوړ کیده خو اوس په‌دې‌قلم کښې هندهم امتیاز لری ، افغانستان ته له‌هندنه زیاته‌بوره هم‌رالځی ،له‌جګړې نه‌مخکښې دا امتیاز رو سیې او جاوادرلود. په۱۳۱۷کال کښې‌چه له‌جاوانه کومه‌بوره‌افغانستان ته‌راغلی‌ده دهغې‌قیمت(۱۱۱۲۰۰۰) کلداری‌ده، او په‌همدغه‌کال کښې دهندڅخه دراغلی‌بورې بیه(٦۰۰۰۰) کلداری وی .

خودجګړی په‌وختو کښې هندی‌بوره زښته زیاته افغانستان ته‌راغله چه‌بیه‌ئې (۳،۰۰۰،۰۰۰) کلدارو ته رسېده . جر منی له‌جګړې نه‌مخکښې ډیرشیان لکه‌دواګانی ،عطریات، کیمیاوی اوفزیکی‌ډول ډول‌فنی‌شیان ،رادیو ګانی اونور شیان افغانستان ته رااستول اواوس له‌جرمنی نه‌دغه‌شیان‌ډیر لږرالځی. دجګړی په‌وخت کښې اوله‌جګړې نه‌لږه موده وړو سته جر منی مالونه اونورشیان بیخی بندشول .

په‌افغانستان کښې دننه‌تجارتی مهم‌مرکزونه : هغه ښارونه چه‌له‌هند اوروسیې سره دسرکونو اولنډو لارو له کبله ارتباط لری هغه‌دافغانستان مهم‌تجارتی مرکزونه دی ، اوکوم ښارونه چه‌له هند او روسیې سره ارتباط نه لری خپل تجارتی مالونه دافغا نستان یو غوره تجا رتی مرکزته لکه کابل ، قند هار، مزارشریف ، هرات اوجلال آباد ته‌رسوی،چه له‌هغه ځایه خارج

ته‌لاړشی .دافغانستان تجارتی مهم مرکز ونه کابل ، قندهار ، مزارشریف ، هرات اوجلال آباد دی .

کابل : کابل‌دافغانستان اوحکومتی دوانرو اومهموموسسو مرکزاودبهلو بهلو څانګو دیوځای کیدو ځای‌دی. نن‌ورځ‌له‌دغه مهم‌ښار نه لوئی لاری بهلو بهلو ولایاتوته تللی دی ، د ښکاری دری‌لار په‌شمال او دوریښمین تنګی‌لار دشرق‌خواته په تجارت کښې ډیری اسانتیاوی پیدا کړیدی . دکابل شمالی ډډی ته‌په کوهدامان او کوهستان کښی دانګوروا و نوروموباغونه زښت ډیردی اوپه ووړی کښی ډیری‌میوې‌په‌لاریو کښې‌دکابل بازارو ته راوړ کیږی اویوه اندازه نوری ئې اوپه‌تیره بیا مئیز او تازه انګور ،بادام اوغوزان دمشرقی له‌لیاری هندته لېږل کیږی .

کوهدامن ، کوهستان ، چاریکار ، ګلبهار اوجبل السراج خوراشنه اووډان ځایونه دی چه کال په کال مسافرین او سیاحین دمملکت له‌پلوبهلو ځایونه دساعت‌تیریو دپاره ورځی .

قندهار: دافغانستان جنوب‌غربی‌خواته‌پروت‌دی او دارغنداب له‌سیند څخه اوبه کیږی دښارنه‌ګردچاپیره باغونه‌لری دقندهار مشهوری‌میوې انار، انګور، آبجوش،انځر، شلیل او شکرپاره دی اوډیری‌زیاتی وچی اولندی میوی هرکال هند ته درومی . دپښتون شرکت چه‌ډیری میوی او شیرینی په خارج او داخل کښې‌خرڅوی اودوطن شرکت چه‌زیاتې ووړی په خارج کښی خرڅوی دقندهار مهم تجارتی شرکتونه‌دی .

دقندهار دوړیو داوبدلو فابریکه‌ډیری‌ووړی په‌کار اچولی اوښه وړین ټوکران جوړوی چه په‌مناسبه بیه په‌داخلی بازارو کښی‌خرڅیږی ، اوپه‌دې ذریعه‌ئې د خارجی‌وړینو ټوکرا نو واردات کم کړیدی‌اودمملکت له‌اقتصادیاتو سره ئې غټه مرسته کړیده ، د۶۰۰ زره مترو تکې اواتیا زره کیلو وړ ینو تاروپه خواوشا کښې هرکال په متوسط ډول له‌نوموړې فابریکې نه لاس ته رالځی .

قندهار دمیوی او وړیو د صادرولو له کبله د افغانستان یو خورا مهم‌تجارتی مرکزدی اودهغه‌ځای تجارتی مواد دچمن‌له له‌لارې هند ته‌لېږل کیږی په قندهار کښې لاسی صنائع لکه چکن (خامك دوزی) ، پوستینونه ، کوسی اومسی لوښی ډېر مشهور دی .

دمزار شریف‌ولایت: د مزارشریف ښار دمملکت په شمال کښی داسی‌مهم تجارتی مرکزدی چه‌له هغه‌نه شوروی روسیی ته‌تجارتی‌مالونه لېږل کیږی ددغه‌ولایت اوروسیی په‌منځ کښی مهم‌بندر ترمزدی ، ددغه ځای غوره حاصلات دقره‌قلی یوټکی، قالینی ،غلې او وړی‌ دی .

هرات: یوتجارتی مهم مرکزدی او دایشیائی ممالکو سره دیو ځای کیدو نقطه ده اوله‌هغه ځایه دایران او هند خواووته لاړې بهلې شویدی ،داسلام‌قلا لیاره دایران او دقندهار دچمن لیاره دهندخواته اودماروچاق او ګلران لیاره دروسیی دسرحد خواته ور تېره شویده او هرات ئې یو تجارتی مهم مرکز ګرځولی‌دی ، هرات آبادی اوودانی ځمکی لری ، بادغیسات چه دهغه شمال شرق ته پروت دی لوی او پراخی او سمسوری اورشو ګانی لری چه‌په هغو کښی دمیزو رمی او ګلی روزلی کیږی ، ځنګلی ونی لکه پسته ،شیرخشت او نښتر هم پکښی ډیردی ،دهرات تجارتی مهم‌محصولات وړی، پسته ، وربښم ، بادام اونورې وچې‌میوې دی چه‌هندته‌لېږلی کیږی .

اسهامی‌شرکت‌اودمملکت‌داقتصادیاتو په‌پراخوالی کښې‌دهغه برخه:

هغه شی چه نن ورځ ئی دملی بانك په‌نوم یاد وو پخوا هغه‌ته اسهامی شرکت ویل کیده ، د دغه شرکت وجوددبانکی په‌تمرکز ، دنجارتی چاروپه انتظام ، داجناسوپه مبادله،دوطنی اسعارو دثابتولو لوساتلواودهغو خارجی‌اجنتیانو دمنځه وړلو دپاره چه افغانی مالونه او محصولات به ئی پخپله خوښه اودخپل مفاددپاره دنړی‌بازاروته‌وړل،غټه برخه‌اخیستی ده ، په افغانستان کښې دامؤسسه لومړی زل داعلیحضرت محمد نادرخان‌په‌وخت کښې‌جوړه اومنځ‌ته‌راغله‌اوسره دمشکلاتو ئې ډېرکارو کړ، دبانك اسهام‌د۱۳۱۱ کال دجدی په‌میاشت کښی دخرڅانه دپاره تیارشول او دهغې اداری‌تشکیلات د۱۳۱۲ کال دثور دمیاشتی په‌اخر کښې شروع‌شول . دبانك مرکزی اداری له‌یوې خوانه د۱۳۱۲ کال دسرطان له‌اول نه‌په معاملو شروع اوله بلې خوائی په‌تشکیلاتو پیل‌وکړ . دهغې لومړی څانګه‌په مملکت کښی‌دننه په‌هرات اوبه خارج کښی په کراچی کښی جوړه شوه‌اودنوموړی کال‌تراخره پورې نورې څانګې په‌لاندی ډول جوړی شوی‌دی .

په مملکت کښی دننه په‌جلال آباد، ډکه ، غزنی،قندهار مزارشریف ، اندخوی ، هرات کښی اودمملکت نه دباندې په پېښور ، کویټه ، چمن ، کراچی ، برلین کښی ملی بانك له اول نه تراوسه پورې دمملکت دتجارتی چارو په‌بنه کیدو کښی پراخ قدمونه اخیستی او په جدیت سره کارکوی ( بانك‌دې و کتل‌شی )

شرکتونه : داسهامو دبانك دجوړیدو په دوهمه‌مرحله کښې چه تجارت لږ څه‌بنه‌شو څه‌شرکتونه یوپه‌بل‌پسی جوړ او هریوه له‌تجارتی شقونو څخه‌یوشق ونیو چه‌دلویو شرکتونو مونه اود هغو پانکی په‌دې لاندې ډول دی :

۱ – په ۱۳۱۷ کال کښی دقند اودپطر ولو شرکت جوړشوچه پانګه‌ئی ۳۰۰۰۰۰۰۰ افغانی دی

۲ – په ۱۳۱۷ کال کښی دمو ټرو دانحصار شرکت جوړشو چه‌پانګه‌ئې ۹۲۲۶۰۰۰ افغانی دی

۳ ـ په ۱۳۱۹ کال کښې د سر ویس شرکت جوړ شو چه پانګه ئې ۲۸۱۸۰۰۰ افغانی دی

٤ ـ په ۱۳۲۰ کال کښې دصابر شرکت جوړ شو چه پانګه ئې ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانی دی

٥ ـ په ۱۳۲۱ کال کښې د امید شرکت جوړ شو چه پانګه ئې ٥۱۳٥۰۰ افغانی دی

٦ ـ په ۱۳۲۰ کال کښې دودان شرکت جوړ شو چه پانګه ئې ۱٥۰۰۰۰۰۰ افغانی دی

۷ ـ ۱۳۲۰ کال کښې دعمران شرکت جوړ شو چه پانګه ئې ۱۹٦۷٦۹۸ افغانی دی

۸ ـ په ۱۳۱٤ کال کښې د شمالی اتحاد په شرکت جوړشو چه پانګه ئې ٤۹٦۸٦۰٥۸ افغانی دی

۹ ـ په ۱۳۲۰ کال کښې دمرستی شرکت جوړشو چه پانګه ئې ۱۲۹۸۱۰۰۰ افغانی دی

۱۰ ـ په ۱۳۱۷ کال کښې دقره کل شرکت جوړشو چه پانګه ئې ٤٤۲۳۰۰۰۰ افغانی دی

۱۱ ـ په ۱۳۱۹ کال کښې دبرښنا شرکت جوړ شو چه پانګه ئې ۱۷٤۷٥۰۰۰ افغانی دی

۱۲ ـ په ۱۳۱۹ کال کښې دنساجۍ شرکت جوړ شوچه پانګه ئې ٤۱۹ ، ۲۹۸ ، ٦٦ افغانی دی

۱۳ ـ په ۱۳۱۹ کال کښې داورلګیتوجوړولو فابریکه جوړه شوه چه پانګه ئې ۱۲۰۰۰۰۰ افغانی دی

۱٤ ـ په ۱۳۱۹ کال کښې دحجارۍ او نجارۍ شرکت جوړ شوچه پانګه ئې ۳۰۰۰۰۰۰ افغانی دی

۱٥ ـ په ۱۳۲۰ کال کښې دلاسی صنائعو دمرستی شرکت جوړشو چه پانګه ئې ٦۳۸۰۰۰ افغانی دی

۱٦ ـ په ۱۳۱۹ کال کښې داقتصادسهامی شرکت جوړشو چه پانګه ئې ٤٦۰۰۰۰۰ افغانی ده

۱۷ ـ په ۱۳۱۳ کال کښې دقندهار دپنبتون شرکت جوړشو چه پانګه ئې ۲۸۲۷۰۰۰ افغانی ده

۱۸ ـ په ۱۳۱٤ کال کښې دقندهار دوطن شرکت جوړشو چه پانګه ئې ۱۰۱٦٥۰۰۰ افغانی ده

۱۹ ـ په ۱۳۱٤ کال کښې دمیوی شرکت جوړشو چه پانګه ئې ۱٥۰۰۰۰۰ افغانی ده

۲۰ ـ په ۱۳۱۳ کال کښې دنقشبندی شرکت جوړشوچه پانګه ئې ۱٦۳٥٥٥۸ افغانی ده

۲۱ ـ په ۱۳۱۳ کال کښې دعزیز شرکت جوړ شو چه پانګه ئې ۱۲٤٥۲۰۰۰ افغانی ده

۲۲ ـ په ۱۳۱٤ کال کښې دقندهار دویساشرکت جوړشوچه پانګه ئې ٥٤٥۷۰۰۰ افغانی ده

## په افغانستان کښې دتجارت راتلونکی پراختیا امکانات :

دوهمی عمومی جګړی ددنیادټولو ملتو په اقتصادیاتو بداثرو کړ اوحتی چه بریالیو ملتو لکه امریکا ، انګلستان اوروسیه شول هم ئې له خپل بری نه هغه مقادچه ګمان ئې کاوه وانه شواخیستلای که له یوی خوا امریکا و کولای شو چه خپل تجارتی مالونه په اروپا کښې خرڅ کړی مګر له بلی خوا هر کله چه پخپله په جګړه کښې داخل و نو دبری د ګټلو دپاره ئې ډېرې قربانۍ وکاللی لکه چه دهغو پرونو ورکولو چه متحدو ملتو ته ئې په جګړه یاله جګړې نه وروسته ورکړی وو د پوروړو ملتو په بیا اصلاح او تقویې پورې اړه درلوده ، اولکه چه لیدل کېږی هغه ملتونه چه دپنځکلنی جګړی له درانده بارنه راوتلی دی مات او ګوډاوزیانمن اود اقتصادیاتو په فشار اخته دی . البته افغانستان چه له دنیا څخه پوه څنډه ده هم نه شی کولای چه ددنیا له مصائبو په څنګ یاتی شی مخصوصاً که به نظر کښې ونیول شی چه زمونږ مملکت زراعتی دی اوباید خپل ټول ضروری شیان له خارج څخه راوړی ، اودهغو په مقابل کښې خپل زراعتی مواد اومحصولات په خارج خرڅ کړی داده چه نه یوالځی دتېرو اقتصادی په شیانیو اومشکلاتو دلری کولو دپاره دخل کولو لیاره پیدا نه شوه بلکه دبین المللی نویو ماتو ګوډو اوخړ پرتیا ددنیادتجارت او اقتصاد په تهدید ولو بد تاثیرات وکړل . له بلې خوا بایدپټه پاتی نه شی چه زمونږ زراعتی اوصناعتی و پاندې تګ چه دمملکت په تجارت کښې زیات تاثیراری تکنیك اوعصری فنی لوازمو اوسامان اوفنی خلکوته ډېره اړه لری اودسامان او لوازمو دلاس ته راوستلودپاره ډېره پانګه په کار ده . ددنیا بحرانی اوضاعو دمملکت صادرات لږ کړل ، اود وارداتو بیه له دې کبله چه داخای له بحر نه لرې پروت دی نو دجګړی نه نسبت مخکښې وخت ته بیه باید درې چندیاځلور چنده زیاته ورکړه شی ، له بلې خوا زمونږ دمملکت دخارجی اسعارو منبع زمونږ صادرات دی اوبې دصادراتو دلوړولو څخه نه شو کولای چه اسعار دخپلو اقتصادیاتو په ګټه تینګ وساتو ، نو لکه زمونږ په مملکت کښې دتجارت پراخوالی په لاندی شرطونو پوری تړلی دی.

۱ ـ دتولیداتو له لیاری دصادراتو لوړول اوزراعتی اصلاحات ، دصنائعو په لوړولو دوارداتو کمول اودیوسم ګمرکی سیستم منځ ته راوستل اوپیدا کول .

۲ ـ په داخلی او په خارجی مساعدو بازارو کښې دحمل ونقل لیارو برابرول .

۳ ـ دتجارتی چارو دچټکتیا دپاره دحمل ونقل دبرابرولو په برخه کښې دپطرولو موضوع ډېره مهمه ده ، یعنی دمملکت دپطرولو له منابعو څخه استفاده کول ، همدغه راز دبرښنا دقوی

دپیدا کولودپاره دمملکت‌دشرشرو (ابشار) له قوې څخه‌استفاده کول چه‌په کرهنه اوضائعو کښې پوره خدمت کوی .

٤ ـ دګمرکی سیاست په‌باره کښې یعنی دلوکس سامانی اومودو دراوړلو مخ نیوی چه‌بې له ضرورت څخه د مملکت په وارداتو درونډبار باروی، اوهمدغه‌شان دهغو صنا عتی اجناسو دراوړلو تدریجی مخ نیوی‌چه‌په کافی‌پول دهغه تولید په‌مملکت کښې پخپله امکان ولری اوبه اخر کښې‌پخپله دپیسو قیمت‌ساتل.

## ۱۳ ـ دافغانستان کانونه : په افغانستان کښې دهغه د جیا لو جی مخصوص

ساختمان په‌نسبت دفلزی معدنیا تو ذخیری شته، لکه اوسپنه ، سرپ، جست، مس،بیریل،ګرومیټ اونور ادهمدغه‌شان د عضوی کیمیاوی معدنیاتو ذخیری لکه‌دډبرو سکاره، پطرول، اونور اوهمدغه رازدرسوبی معدنیاتو ذخیر ی لکه مالګه ، ګوګړ چونه، ګچ اونیم کریمه جواهر لکه لاجورد، یاقوت همتست ، ګرانات اونور پیدا کېږی .

ددغه راز کانونو وجود لږو ډیر له‌سلونو کالو را ایسی څرګند دی اونظر دې ته صوفونه، تو نلونه، ځاه ګانی او معدنی نقبونه‌چه دپنجشیر، اندراب، دقندهار د خاکریز اونورو ځایونه‌داوسپنې، سرپو، مسو اونوروپه‌کانو کښې لیدل کېږی، اوهمدغه‌شان دخاواك نقره‌خانی، دپنجشیر پسګرانو ، دبامیانو آهنګران‌دهرات سیم ګوه،دفراه مس‌خانه اونور نومونه چه ډیر پخوانی نومونه دی، ثابتو ی چه د فلزو ځینی مهم کانونه لکه مس، اوسپنه، سرپ اوسپین زرپه‌دې وطن کښې له‌پخوانه څرګندوو اوحتی چه‌له هغونه به کښل کیدل هم فلزئی په همدغه ځایو کښې ویلی کیدل اواستفاده‌ئې تری کوله، او حتی په پنجشیر کښې دوه کلنیو تدقیقاتو ثابته کړه چه په پنجشیر کښې دچنګیز دحملی نه مخکښې دسپینو زرو د وښکلو لیازه چه دزولفیدی معدنی سرپوسره‌به کیمیاوی پول ګډوی خوارښه پېژندله، اودهغو دپه لاس راوستلو دپاره دخا واك له برخی نه دپنجشیر ترعمرس اودرخی پورې ددیرشو میلو په اوږدو پەغره کښې‌حفر یات شویدی اوو دې شی چه کار ئې هم ډېره موده دوام کړی‌وی .

همدغه شان دلاجوردوکان‌ته دمدققینو اومستشر قینو دمثبتی نظرئی سره سم پنځه زره کاله لومړی توجه شویده اولاجورد ورڅخه کښل‌شوی‌دی دغوربند دفرنجل ددوه‌زره کلن‌کان سرپ مشهوردی . اوهمدغه شان ښائی چه‌دتالقانو اوکلفګان د مالګی کان دلاجوردو دکان څخه خورا پخوانی وی .

دمملکت دتاریخ دوروستیو ٦٠ کالو په کشفیاتو کښې څه‌نوی ذخیری چه ددی خاورې پخوانو خلکوته معلومې نه‌وې کشف شولی،لکه دتیږودسکرو، پطرولو، بیریلو کرومیتو ، انتی مونو اونورو کانونه داهم باید وویل‌شی څرنګه چه‌ښائی په افغانستان کښې تراوسه پورې دیوسم او صحیح سیستم په اساس کانونه نه‌دی کشف شوی، اوپه دې لیاره کښې ز مونږ ټول معلومات دځینو جیالو جستیانو، کشافانو او نورو مطالعی او کتنی دی، چه دکانو نمونی ئې لاس ته را وستلی او دهغو دپیدا کیدو ډځای په‌باره کښې ئې نیم ګړی‌او مجمل معلو مات کړیدی، اودپطرولو په جیالوجی تد قیقاتو کښې دافغلیند اکستلوریشن دفلزی کانو دځېرنو په‌ساحه کښې د (افغان جرمن بانیك کمپنی) داساسی تدقیقا تونه پر ته نوری ځانله ځانله کتنی‌غیرسیستماتیك دی او دوخت اوزمانې ذ اقتضا سره سم عملی شویدی، کوم وخت چه ددغه محیط تو پو ګرافی نقشی واخستلی شوی اودجیالو جستیانو شمېر زیات‌شو نو دا آرزو به خورا ښه ترسره شی اوخورا مهم کانونه به لاس ته راشی چه تراوسه پورې مونږ له هغونه خبرنه‌یو لکه چه وویل شو دافغانستان په مملکت کښې نظر دهغه جیا لوجی ساختمان ته دجستو، اوسپنې،مسو، کروم، برلیوم اونوری فلزی معدنی‌غوره اوغیر غوره ذخیری او نورې رسو بی ذخیری او دعضوی طبیعی محرو قاتی مواد و ذخیری لکه د تیږو سکاره پطرول ،آیل شیل اوغیرفلزی معدنی ذخیری لکه‌تالك، ګچ ، چونه ،ماګنیزیت، مرمر، اورځام شته‌دی. اودغه‌دی چه‌په‌لاندې ګرښو کښې ددغو ټولو ذخیرو په‌باب کښې دهری ډېرې ځانله ځانله بیان کاوه شی . خوله‌دې نه‌لومړی لازم‌دی چه‌په‌دې ځای کښې ځینی افغانی مروجه معدنی مخصوصو اصطلاحاتو تعریف وشی‌چه دغه اصطلاحات په‌آسانه وپېژندلی‌شی اوهم غیرمسلکی خلك اوهغه‌څوك چه‌له‌افغانی‌محیط نه‌وتلی وی په‌هغو پوه‌شی او زمونږ په‌مقصد وپوهیدلی‌شی .

الف معدنی ذخیری : چه په‌انګریزی اصطلاح کښې ورته Deposites وا ئی دیوی کتلی یا جسم ا و یا معد نی مواد و دمجموعی پیدا کیدل دی چه‌یومتحد ساختمان لری‌اوپه‌غیرمعدنی تیږو محاط وی اوداقتصادی نقطه نظر نه‌دغه نومورې معدنی مواد په کارپېژی ، مګر تراوسه لاذکر شوی جسم په‌کار نه‌دی اچول شوی‌اواستفاده‌ورڅخه‌ده‌شوې ،مونږ دغه‌شان‌دپیوزیتونه په‌افغانستان کښې معدنی ذخیری بولو .

ب ـ کان: (Mine) هغی فلزی یاغیرفلزی معدنی ذخیرې ته وایو چه‌په‌کار اچول‌شوی وی‌اودښکلو ترعملیاتو لاندې وی .

ج ـ معدنی جسم : Ore body یوه معدنی کتله ده چه په کیمیاوی ډول ،معدنی ساختمان ( فلزی وی که رسوبی‌وی‌او که محرو قاتی‌وی ) لری ،خو زمونږ په اصطلاح زیات‌معدنی جسم د فلزی معدنی کتلی دپا ره استعما لیږی ،

د - رسوبی معدنی ذخیری : (Sedimentary Deposites)

هغه دی چه دپخوانو بحرو نو د رسوباتو پـه اثر د خوزو او تروو او بو دجریان په واسطه یادبا دلګیدلو په واسطه دجیالوجی زمانو په تیریدو منځ ته راغلی اودپرپروزیاتوطبقو په صورت جوړی شوی وی . اوتراوسه پورې لا په هغو کښې دتېرو ترسیبی عملیاتو آثار لیدل کیږی دچونی ، ګچ، ګوګرو، شګلنو تیږو، شیلونو او نورو ټولی ذخیرې په دغه ډله تیږو پورې اړه لری .

هـ - شیل، تون شیفر، سلیټ، کرسټالین شسټ، شګلنی تیږی ،

کوارتیست اوداسی نور : دادخارجی الفاظو اصطلاحات دی او هغه ډول تیږو د پاره مو نږ مو نـږ مخصـوصی کلـمی نه لرو ، نو اصل اصطلاحات مو په فارسی ژبه د خپل وطن په جیالوجـی شق کـښې رواج کړی دی . شیل (تون شیفر) هغی طبقی خاورې ته وایو چه دجیالوجی دوروپه تېر ېدو او نورو میخانیکی عملیاتو په اثر سختې شوی وی او مخصوص کلکوالی ئې میندلی وی، اودطبقی په څیر جوړې شوی وی، اویالا تراوسه پورې طبقی شوی نه وی ، مـګر دهغو په فزیکی خواصو کښې کوم تغیر نه وی راغلی .

سلیټ دطبقو په منځ کـښې دخټـو یوه طبقه ده چه دګـونډیو تیږو داور شیندلو دقوی تودوخې او دتیکتو نیکی عملیاتو په په اثر ئی فزیکی ساختمان ته تغیر ورکړی وی، اودیوډول اوکلکو طبقو په ډول دتورق په خاصیت منځ ته راغلی وی .

کریستالین سلیټ : هغو سلیټونه وائی چه دتودوخی د تاثیر لاندې دهغه په فزیکی ساختمان کښې تغیرراشی او بیادتیکتو نیکی عملیاتو په اثر ټول سره واوړی را واوړی او تر هغې ځایه ئې ظاهری ساختمان ته تغیر ورکړی وی چه طبقو او تورق نښی او خاصیت په کـښې شکاره ونه لیدل شی او دهغو په مخ یوډول مخصوصه جلاچه دکوچنیو کریستا لونوله وجود څخه پیدا کیږی لیدله کیږی لکه د هلمند او سا لنګ دکوتل او د هندوکش دسلسلی او نورو دمشهورو طبقو سلیټونه .

شګلنی تیږی : که دشګلنو طبقو کتلی د جیالوجی دورو دتېر ېدو اودهغو دپاسنیو طبقو د فشار په اثر یوډول بالیند مواد یعنی دآهکی استحکام مانع جوړ اوپه داسې ډول سره ځو ښ وخوری چه دشګودانی سره ېیلې نه شی بلکه دځوښ خوړلو په په اثر داسی طبقی موجودی شی چه دمطبق ساختمان ولری هغونه شګلنی تیږی وا یو ، او داهغه تیږی دی چه په و دانیو کښی پکـار ېږی، لکه چه دهرات دمرغاب په سلسله کښې د غه ډول تیږی ډیرې لیدلی کیږی .

کوار تیست : دا هغه شګلنی تیږ ی دی چه د کوار تس لرونکو شګونه جوړی دی چې هغه دترسب له دورې نه وروسته زمانو داورشیندونکو تیږو دمستقیمی تو دوخی د تاثیر لاندې شګی ویلی شو یدی اود شګو دانی دویلی کیدو او د سلیکاتی مائع دپیدا کیدو په اثر ځوښ خوری او کوار تیست ترې پیدا کیږی ، دغه ډول تیږی خورا کلکی تیږی دی اوپه کلک والی کښې له بازلت اوغرانیت نه هم کلکی دی اودودانې دپاره خورا ښې تیږی دی دلو ګر دخروار دبندبرخو کښې دغه تیږی ډیری پیدا کیږی او د نومورې پند دیوال هم له دغو تیږو نه جوړ شو یدی .

بازلت : یوډول توره قلوی کلکه اور شیندونکی تیږه ده

غرانیت : چه دپنجشیر ، سالنګ او اند راب د خلکو په اصطلاح ورته ( بر نجی تیږه ) وائی دا یوه سپینه دانه داره تیزآبی آتش فشانی تیږه ده اودښکاری درې دواړه غاړی له همدغو تیږونه جوړی دی، اواوسنی سرک په همدغو تیږو کښې تېر شوی دی .

دیك : Dike دد غو تیږو دسا ختمان و ضعیت آتشفشانی دی چه د ستنیو په ډول د ر سو بی تیږو ا په منځ کښې داخلی شو یدی او بیـا په هماغه ځای کښی کلکیږی او مونږ ور ته معـنی دیك وایو .

تکتو نیك : Tektonike دغرونو تشکیلاتی عملیاتو ته تکتونیك وایو یعنی هغو ټولو عملیاتو ته لکه دجیالوجی پخوانیو زمانو اوزدی زلزلې اودځمکې دیوې خواقوی فشارونه اونور عوامـل چه دهغو په اثر هوارې طبقـې کـېږ ی او غونـجی شی اوغرونه ترې جوړ ېږي او یاغرونه ماتوی او یاښکته درومی او یائی پورته کوی اوداسی نورو عملیاتو ته تکتونیکی وایو .

شکست خط : که چېرې طبقی دتکتونیکی عملیاتو په اثر سره ېیلې شی اوسره جلاوپر ېشی نو دجیالوجی کـتنو په اثر څومتره لرې یاښکـته یاپورته له دغه مات ځای نه بیاطبـقی ولیدل شی نوددواړو شکستګـیو فاصل خط ته (فاولت ) وا یو فالتو نـه ددروپه جوړ ېدو کښې پرهغو داوبو دپر له پسې بهید و په اثرغټ رول لوبوی داووجیالوجی ضروری اصطلاحات چه باید په دې ځای کښې ذکرشوی وایی اوس اصل موضوع ته ورګرځو .

دافغانستان طبیعی ذخیری او کـانونه نظـر دهغه اقتصـادی اهمیت اواکـتشافاتو ته په لاندې ډلووېشل کېږی اودهرې ډلی په باره کښې په زړه پورې تشریحات ورکول کـېږی :

دافغانستان دټولو کانو په باره کښی پوره څېړنی نه دی شوی نوځکه دهریوه په باب کـښی مثبت معلومات په لاس کـښی نشته

او یوالحی دوښکلیو کانو په باره کښی مثبت علمی معلومات شته چه هغوته هم کامل نه شی ویلای .

**ویشونه:**

۱- دسولو دموادو دکانوذخیری لکه تېل، دتیبزوسکاره اوبیتومن .

۲- دکانوذخیری لکه دخوړو مالګه دمالګی ښوره او کیمیاوی مالګی .

۳- فلزی ذخیری لکه اوسپنه، مس، سرپ، کروم ، بیریل جست اونور ،

٤- هغه تیبزی چه نیمه جوهر اوصناعتی وی لکه لاجوردیاقوت مرمر، رخام اونور .

دسولو دخیزو دکانوذخیرې:

الف دپطرولو ذخیری : دیو نو جیالو جستیانو اود خارجی فنی مکملو هیئتو اود مملکت دداخلی متخصصینو دکتنو په اثر له ۱۳۱٤ کال نه را په دی خواددغه مملکت دتېلو ذخیری دخپرنی لاندې نیولی شوی دی چه خلاصه ئې داده :

دافغانستان په شمالی برخه کښی دتېلوذخیری یعنی دهندوکش دلیکی به شمالی خواوو کښی درستاق اوتالقانو له برخې نه په شرق کښی دایران ترسرحده پورې اودهندوکش له شمالی سلسلی نه چه دالبرز دغره په سربند مشهور دی د آمو تر سیند پورې انتی کلینو نه د (۱۱) خطو په حدودو کښی شته دی، چه سم ان لینډ اکسپلورېشن امریکائی کمپنی دجیالوجست دخپرنو سره (له ۱۳۱۷ کال نه تر ۱۳۱۹ کال پورې) دپطرولو دپیدا کیدو دپاره مساعد دی په ۱۳۲۹ کال کښی بناغلی دکتور (سی د بلیو ترمب ) دیونوصناعتی مشاوردغه (۱۱) گونی انتی کلینونه په هغو شپږو برخو وویشل چه هغه پطرول لری، لکه دهرات قلعهٔ نو دمیمنی شبرغان قندوز، تالقان، دامو دسیند جنوبی برخه او دمیرعالم داودان په برخه له هغه تاریخ څخه تراوسه پورې زیاتې طبقات الارضی کتنی په شبرغان کښی وشولی اود نورو زیاتو خپرنو دپاره دتحت الارضی ساختمان د تاکلو دپاره د مزار شریف دسرپل داندوج په غره کی کښی دشبرغان په او له نمره تېل اړونکی ساحه کښی برمه کاری په نظر کښی نیول شوی ده هیله شته چه دنوموړو عملیاتو په پای کښی دپټرولو د ذخیرو اودهغو دخرنگوالی په باره کښی زمونږ معلومات بشپړ شی دهرات په برخه کښی چه کومې خپرنی شویدی ،څرګنده شوې ده چه دهغه ځای ذخیری لږی دی اوله دغو تیلونه استفاده نه کېږی .

دتیبزو دسکروذخیری: دلومړی زل دپاره په افغانستان کښی دامیرعبدالرحمن خان په زمانه کښی (له ۱۸۸۰ کال نه تر ۱۹۰۱م) پورې دانګلیس مستر هایدن په ذریعه دتیبزو د سکرو ذخیری وکتلی شوی. ده دخیلو کتنو په پای کښی دافغانستان د شمالی جیالوجی ساختمان په باب کښی یوښه کتاب لیکلی دی چه هغه خیورشوی هم دی ده رپوټ ورکړی چه دتیبزو سکاره زیاتره دکابل په ۳۵۰ میلی کښی شته، مسترهایدن په درهٔ صوف کښی دتیبزوله سکرونه ښه خبرؤ . اودآش پشتی او کرکر له نوروکانو څخه خبر نه ؤ په ۱۳۰۵ه کښی دامیرامان الله خان د سلطنت په دوره کښی دتیبزودسکرو کانونه دهندوکش په جنوبی برخه کښی دکتنی لاندې ونیول شول خوغه نتیجه ئی ورنکړه مستر کریس باخ انګلیس چه دجیالوجست په صفت سره دافغانستان، هند برطانئی دسرحدی ګډې کرښې په تاکلو کښی شامل ؤ دخپلو جیالوجی څپړنو په اثر ئې ګټورمعلومات دسرحد دجیالوجی خطوطو په باره کښی له واخان څخه ترکوتی، بلوچستان پورې ورکړیدی چه دهند دطبقات الارضی دنشراتی څپړنو په لړ کښی خپاره شوی دی دغو څپړنو په اساس دهندوکش په جنوبی لیکه کښی دسکرودیوراسیک ددوری کانونه له دغو طبقاتو سره نه دی لیدل شوی، او ددغه ځای پیداوار سکاره د لیګنیت په ډول چه دترتسیری په دوره پورې مربوط دی دجنوب او جنوب غربی په بیلو بیلو برخو کښی لیدل شوی خوځه اقتصادی اهمیت نه لری دتیبزودسکرو مهم کانونه دایش پنتې د سکرو کان دکابل د ښار په (۱۱۸)میلی کښی، دکرکرکان دپل خمری دشمال شرقی خواوشاپه (۷) میلی کښی، اودبنګی کان دخان آباد دښار جنوب مشرق په ۱۸ میلی کښی او د هرات دکرخ دسکرو کان د هرات د ښار د شمال شرقی خواوو په ۷۰ میلی کښی دی اوله ټولو ذخیرو څخه خورا ښه ددرهٔ صوف سکاره دی چه دآهن تور ، شوباشک ، قبر افغان ، سراسیاب اونورو ذخیری دی او د هغه خورا غوره ذخیره داتکلی سنجش سره سم د ٦۰ میلونو ټنو په حدودو کښی ده ، له د ی جملی نه دایش پشتی او کرکر د تیبزو سکاره په کار لویدلی او ددرهٔ صوف د سکرو کان به د شو باشک په برخه کې په ۱۳۳٤ کال په کارو اچول شی نو دایش پشتی او کرکر کانونه هغه مهم کانونه دی چه هغه په کار اچول شوی دی ، دا دوه کانونه له یو کال رایسی د سکرو یوی واحدې دولتی اداری لاندې راغلی اوله د غودوو کانو څخه تر اوسه پوری د کرکر په برخه کښی ٤۰ زره ټنه او دایش پشتی په برخه کې ٦۰ زره ټنه و ښکل شوی دی ، د ایش پشتی دکان سکاره د کابل دښار اودولتی دوائیرو د سون دپاره اود کرکر دکان سکاره دصناعتی فابر یکود پاره صرف کیږی.

د ایش پشتی د کان سکاره : د ایش پشتی د سکرو عمومی خصوصیات په لاندی ډول دی :

د یوراسیک دوره قدامت؛

پوړی جنسیت دایرو په رنګ چه تورو الی ته مایل وي .

د پیدا کیدو توګه‌د لینزونو په ډول د ٦عد دوپه خواوشا کې.
دسکرودواوت ګروپ‌استقامت‌له‌جنوب‌غرب‌څخه شمال شرقی‌خواته.
د سکرودطبقی‌میلان‌له ۲۲ نه‌تر ٤۰درجو پوری‌د شمال‌غرب‌خواته.
د اوت ګروپ اوزدوالی له (۱۷) لینز څخه تر (٦) پو ری
د یوزر او دوه سوه مترو په خواو شا کې .
کیمیاوی ساختمان: لوندوالی په سلو کښی ۹ کار بن فیکس
په سلو کښی ۵۵ پور ته کیدونکی موادپه سلو کښی ۷۰ ، ۳۱
ایره په سلو کښی ۳ ، ٤ کا لو ری ۵۱۰۲ دمخصو ص وزن
درجه٥٤ ، ۱ .

د اش پشتی د کان ذخیری چه له ۱۳۱۸ کال څخه تر ۱۳۲۰
کال پوری د مسترویست‌د جیالو جیکل سروی اف اندیادهئیت
د مشر په‌ذریعه د اکتشافی عملیاتو په‌اثروسنجول‌شوی، دوه‌سوه
اوشپاږس‌زرو‌تنوته ورسیدی‌خو د۱۳۲٦ کال‌څخه تر۱۳۳۳کالو
پوری‌دا کتشافی‌عملیاتو په‌اثرځر ګنده‌شوه چه دنوموړو سکرو
ر ګونه‌په تاکلی ژورووالی له ۲۲ درجی کښ والی نه ناځا په
څلویښت درجی کاږه شوی او نسبت د مستر وبست سنجش ته
ډیرې ذخیرې لری ، اوس دلومړی کان ذخیری (۳۵۰) زرو
تنو ته رسیږی ، خو بیا هم دغه کان وړو کی دی او بنا ئی
چه څو کاله‌نورتری سکاره راووځی له۱۳۲٤کال نه تر ۱۳۳۱
کال‌پوری د الف اوب په (۱) او (۲) او (۳) لینز ونو کښی
په اکتشافی عملیاتو او کار شروع شوی او بیا په (٤) لینز
کښی د (۵) لینز خواته د سکرو د زیاتو ذخیرو پیدا کولو
د پاره د یو افقی سوری (صوف) په ذریعه هم شروع شوی
او کارئی جاری دی .

له ۱۳۲۳ نه تر ۱۳۳۳ کال پوری د ایش پشتی او کرکر
دایستل‌شووسکرو اند ازه د تن متر یک‌په حساب :

الف د ایش پشتی سکاره له ۱۳۲٦ نه تر ۱۳۳۳ کال پوری

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۲٦ | کال | ٤۳۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۲۷ | کال | ۵۲۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۲۸ | کال | ٤۳۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۲۹ | کال | ۵۹۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۰ | کال | ٦۱۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۱ | کال | ۷۸۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۲ | کال | ۱۱۹۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۳ | کال | ۱۰۰۰۰ | تنه | متر یک |

ب : د کرکر سکاره له ۱۳۲۹ نه تر ۱۳۳۳ کال پوری !

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۲۹ | کال | ٤۲۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۰ | کال | ٦۲۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۱ | کال | ٦٦۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۲ | کال | ۵۷۰۰ | تنه | متر یک |
| ۱۳۳۳ | کال | ٤۸۰۰ | تنه | متر یک |

پاسنی راو ښکل شوی اندازه که څه هم طبعاً لږه د ه خود
هغی له مخی کیدای شی چه په کابل کښی د نوموړو سکرو د
خرڅون مارکیټ د انکشاف اندازه او د نوموړی‌کان دکالنی
استخراج اندازه قیاس کړی شی .

د ایش پشتی سکاره چه پوډری دی نول کان څخه وړل کیږی
او په کابل کښی بریکت‌اچول کیږی، بیاپه تاکلی‌نرخ خرڅیږی
دولتی دائری ، ملی موسسی او شفاخانی هغه اخلی او د کابل
خلک هم د هغو څخه د لرګیو کار اخلی .

د کرکر د سکرو کان : دا کان لس میله د قطغن په ولایت
پوری مربوط د پل خمری‌له صناعتی ښار نه لری شمال شرقی
خواته د ګرکر په غره کښی دی ، د هغه د قدامت خصو صیات
دیوراسیک له دوری څخه دی جنسیت ئی پوډری ایر ورنګی
او حتی تور هم دی او د لنیز و نو په ډول پیدا کیږی د
سکرو د اوت ګر وپ لیکه له ۲ نه تر ۸ مترو پوری او
میلان ئی له ۲۰ نه تر ۲۸ درجو پوری دشرقی خواته دجنوب
غرب په استقامت شمال شرقی لوری ته تیره شوی ده .

کیمیاوی‌ساختمان : لنده بل په‌سلو کښی ۸٦ ، ۲ کاربن‌فیکس
په سلو کښی ۰٦ ، ۵٤ متصاعد موادپه سلو کښی ۳۳،۷۰ایره
په‌سلو کښی۹،۳۸د تودوخی درجه‌په‌سلو کښی له ۵۸۰۰ څخه‌تر
٦۰۰۰ پوری ده ، ددغوسکرو کالوری در جه تر یوی اندازی
د کوک‌سازی‌خاصیت لری ، له خصائصوڅخه‌ئی څرګندیږی
چه دغه سکاره په‌قدامت ، جنسیت‌او کیمیاوی سا ختمان کښی د
ایشپشتی سکرو ته ډیر ورته دی .

دخرڅون مارکیټ : ددې‌کان‌ایستل‌شوی‌سکاره دپلخمری
دنساجی‌ر ، دبغلان دقند سازی‌ر فابریکو اودبغلان اوپلخمری
دښارونو دتعمیراتی د شونو دسولو په‌مصرف رسیږی . ددغو
سکرو دایستلو اندازه په‌کال‌کښې اوس د شپږ نیمو زرو څخه
تراوو زرو‌تنو پوری‌رسیږی داکان په۱۳۱۸ کال کښې کشف
اودځیرنې لاندې ونیول‌شو دکان دپراختیا چارې له ۱۳۲۳ کال
راهیسی په‌شدت سره جاری‌دی، دهغې نیټې نه تر اوسه پورې
اویازده تنه‌دتیږوسکاره ترینه ایستل شویدی ددغه کان عمومی
ذخیره‌څلور میلیونه تنه اټکل شویده د پراختیا عملیات یې
د۱۳۳۳کال راهیسی په‌ډیره زیاته‌اندازه په‌یواوزدافقی‌سورنګ
کښې شروع شوی اوجریان اری دعملیاتو په‌ختم کښې ممکن
دی له‌دې‌کان‌څخه‌په کال‌کښې شپیته‌زره تنه سکاره وایستل شی
ددې کان چاپیره د ګلبهار اوپلخمری دنساجی‌ر اود بغلان
دقندسازی‌ر دفابریکو دصنعت پراخوالی اوپرمختګ ددغه کان
دانکشاف سبب ګرزیدلی‌دی دیو کال راهیسی دکرکر اوایش
پشتې په کانو کښې د(دولتی یووالی) په نامه‌دیوې اداری له‌اثر

لاندی کار کیږی هغه سکاره چه پس له دې نه له دغو کانو څخه ایستل کیږی د نومورو فابریکو اودجبل السراج دسمنټ سازۍ دفابریکې د اړتیاؤ لپاره په مصرف رسیږی .

دکارګرانو لپاره په دواړو کانو کې د استوګنې ځایونه شفاخانې، حمامونه اودفترونه جوړشویدی .

ددرهٔ صوف دسکرو ذخیره : داذخیرې دمزار شریف دښار جنوب شرقی خواته په سل میله تخمینی فاصله کښی واقع دی چه په دره صوف کی دشو باشك د سکرو له ذخیرې څخه عبارت دی او په یوسل وپنځه پنځوس میله اوږدوالی کښې د یو سرك په ذریعه دمزارشریف له ښاره سره مربوطه شویده . نورې ذخیرې یې د دهنه تور-ذخیره (پنځه ملیو نه ټنه) دسر آسیا ذخیره (څلویښت ټنه) اودقبرافغان ذخیره ده ددرهٔ صوف دسکرو ټولی ذخیرې دابتدائی اوکشفیاتی څیړنو په اساس شپیته میلیونه ټنه تخمین کیږی .

ددغه کان دسکروخواص: رنګ اوجنسیت یې څه ناڅه دایش پشتې او کرکره سکرونه توپیرلری ؛ ځکه داسکاره بورخې بخن اوتر یوحده روښانه دی اودټوټو په صورت لاس ته راځی ؛ پخوانیوالی یې دیوراسیك دزمانې دی اومنظمې طبقې یې درګونو په شکل دپنځونه تراتو مترو اوتریو حده زیاتره پرپرې والی پورې جوړی شویدی . داسکاره پخپل جنسیت اود کالوری په درجه کښې له نوروسکروڅخه څوځله ښه والی لری اودمملکت یوه ستره ذخیره ګڼل کیږی .

کیمیاوی خواص : رطوبت ئې په سلو کښی ٦،٧٤ مواد متصاعده په سلو کښې ۲۸،۳۳ کاربن فیکس په سلو کښې ٦۱،۱۰ ایره ۹،۳٤ مخصوص وزن ۱،۵۷ کالوری ئې د ٦۵۰۰ او ٦۸۰۰ درجو په حدودو کښې دی .ددې کان دسکرو تجزیه په اساسی صورت سره لانه ده شوې او تریوه حده ئې اساسی کشفیات هم نه دی شوی .همه تجزیه چه شوې ده ددرهٔ صوف دسکرو دکیمیاوی جنسیت په باب کښې تنها یو تخمینی معلومات ورکوی .

مهمه مسئله داده چه ددرهٔ صوف سکاره ښه کوکس ورکوی کوم وخت چه دذکرشوی کوکس د خرڅون اومصرف لپاره مارکیټ تهیه شی اوهم دافغانستان دتیښو د سکرو اوسنی مارکیټ پراخه شی ددې کان دایستلو په پروژه باندې به لاس پورې کړشی .سربیره پردې دخان آباد دښار جنوب پلوته په (۱۸) میله مسافه دښکی په حصه کښې یو کان اوهمدارنګه دهرات دښاردشمال شرقی په اویامیلی کښې دکرخ دسکرو کان واقع دی . دکرخ کان یونیم ملیونه ټنه تخمین شویدی ؛ جنسیت یې عالی اودیوراسیك دزمانې دی ؛ ښائی چه په نژدې آینده کښې دغه کان هم په کارواچول شی ، مګرحاضروخت دخرڅون بازار نلری داټول یادشوی سکاره دجیالوجی د یوراسیك ددورې دی اوپه کارراڅی .

دافغانستان دجنوب موجوده سکاره ځوان اود(لیګنیت) له جنسیت څخه دی چه هیڅ پول اقتصادی اهمیت نلری .

دمالګی کان : په افغانستان کښې دوه پوله دمالګې کانونه شته دی :

اول :دغرنۍ مالګې کانونه (Rock Salt) لکه دقطغن دولایت دتالقانو کلفګانو،چال اوقرلق دمالګی کانونه اودهرات دولایت دشهرك کان .

دوهم: نمکسارونه لکه دخلم ،اندخوی ، هرات اودمقر دملك دین خیلو دمالګی کانونه .

دغرنۍ مالګې دکانو په لړ کښې دتالقانو د مالګی کان یوخاص اهمیت لری د تالقانو دمالګی کان په ۱۲ میله مسافه کښې دتالقانو دجنوب شرق خواته اودنمك آب سیند په شرقی څنګ کښې دیوه مالګینی غره په څېرواقع دی،چه دجیالو جستیانو په اصطلاح دوهم سالټ ورته وائی جګوالی یې ددرې له سطحې څخه شپږسوه اوپنځوس فوټه دی ددې کان مالګه لرو نکی سیمه د« جیولوجی کل سروی آف انډیا » دیوه جیالوجست له خوا، چه په ۱۳۱۹ کال کښې دافغانستان په مصرف سروی شوې اود کانووزارت ته تقدیم شوې، سنجش شویده .

دمالګې دغه غره ته مخامخ لمر پرپواته پلوته دنمك آب دسیند په کښې څنګ، کښې هم دمالګې یوغرشته دی اونومورې سیند دمالګې ددواړو غرونو ترمنځ بهیږی او د آوخیزۍ په وخت کښې یوه اندازه زیاته مالګه دخپلو دواړو غاړوڅخه پرېکوی اواوبه یې تروینزی په همدغه سبب داسیند د(نمك آب) دسیند په نامه مشهور شو یدی . ددغه کان کشف شوې برخه زرمتره اوږده ده او دمالګی ایستل دهمدغې برخی په تاکلو ځایو کښې جاری دی .

کیمیاوی جوړښت :

| | | |
|---|---|---|
| کلورپوسود | (Nacl) | په سلو کښې ۹۹ /۷۰ |
| کلورډو مګنیزیا | ($MgCl_2$) | په سلو کښې ۱ /۱۲ |
| سولفات ډو کلسیوم یعنی ګچ | ($CSO_4$) | په سلو کښې ۰ /۱۸ |

ددې تجزیې له مخې د دغه کان ایستلې شوې مالګه پخپل جنسیت کښې څه ناڅه خالصه او دخورو مالګه ده او په افغانستان کښې ښه خیږی . د دې کان د مالګی ایستلو تاریخ پوره معلوم نه دی ؛ خو دژورو کنډواویو شمیر حفر یاتو د وجود په اثر ، چه د تالقانو ،چال ، قرلق اونورو ځایو په کانو کښې لیدل شوی دی ، داسی ګمان کیږی چه دغه کانونه ددې مملکت دپخوانی مدنیت د زمانی له

شر وع را هیسی یعنی څلور یاپنځه زره کاله مخکښې په کار اچول شویدی .نوموړی کان تر۱۳۱۸ه ش کال پورې دملت په لاس کښې ؤ خو د۱۸کال را هیسی په حکو مت پورې مربوط اودکانو وزارت له اداري لاندې ونیول شو. دامالګه د کوندوپه ډول سره دیو شمېر متخصصینو پەذریعه ایستله کیږی چه هره کونده یې ۶۰ سانتی اوزد والی او۳۰سانتی پلن والی او ۱۵ سانتی پریږ والی او څه ناڅه ۳۵ کیلو وزن لری . ددې کان دپلور لو مارکیټ قطغن ، کابل او غزنی دی . دچال اونورو ځایو کانونه ،چه مخکښې یادشول اوس ترلی اود مالګې ایستل تر پنه معطل دي .

دکلفګانو دمالګې کان : داکان د تالقانو لمر خاته خواته په۲۶میله مسافه کښې پروت اودمالګې غر دسرك له خط نه غرب پلوته په یونیم میل فاصله کښې پروت دی؛ ذخیره یې نسبت دتالقانو دمالګې غره ته ډېره کمه ده .

جنسیت یې تیټ او تر یوې اند ازې یو قسم سره خا وره ورسره ګډه ده؛ دې خاورې دمالګې رنګ سور ګرزولی دی . دبدخشان خلکو دپخوا زمانو راهیسی دې مالګې سره آ شنائی درلوده اوهغه ددې خاورې اوسور رنګ له کبله دواګنې او اخیستلو ته ئې ډیر شوق لری او ددې مالګې دخر څون بازار یوازی بدخشان دی .

جیا لوجی ترکیب : دا کان دتا لقانو د مالګې د غره له جیالوجی سره ډوره مشابهت لری . ددې کان دایستلو اندازه په کال کښې (۲۲۰۰) ټنه ده، او د تالقانو دکان مالګه په کال کښې (۱۲۷۰۰) ټنو ته رسیږی .

دوهم نمکسارونه : په افغا نستان کښې ډیر ستر نمکسار دهرات نمکسار دی ورپسې د اندخوی او د مزارشریف دخلم نمکسارونه او ډیر وړوکی یې د مقر دملك دین خیلو نمکسار دی. داقتصادی اهمیت له حیثه داندخوی اوله درجه ،دهرات دوهمه اودخلم دریمه درجه دی .

د اندخوی نمکسار : د اند خوی د نمکسار کان اته میله اوږدوالی اودوه نیم میله پلن والی لری اودځلورو خواوو څخه شګلنې غونډی اوجګې سطحې ترپنه را چار پیر دی .

اواندخوی له شباره ۳۲میله جنوب شرق پلو اوله دولت آباد څخه ۲۴ میله شمال شرق خواته لیږی پروت دی .

دکان دحوزې د منځنی برخې په سطحی کښې درې تروه ډنډونه (تالابها) شته دی چه دتالاو دننه چینو او دباران داوبو څخه چه له شاوخوا غروڅخه پکښې را ښکته کیږی ،منبع اخلی دغودرې واړو تالاوونوته (داندخوی ډنډ ، دمیمنې ډنډ او جنوبی ډنډ)وا یی .

دمالګې ډنډ پلن والی په ډیرې نرۍ حصې کښې یومیل اواوږدوالی یې له شپږو تراتو میلو پوری دی . ددې تالاوونو اربه، چه مالګو بی دی، دهرکال دقوس میاشتې راهیسې په تالاو کښې جمع کیږی او د جوزا په میاشت کښې دلمر د تودوخې په اثر په تدریج سره کمیږی اوآخر دسنبلی په میا شت کښی مالګه د تالاو د اوبو بیخ ته کښینی او و چیږی او د تالاو مخ دمالګې وه سپینه او بلورینه کرل (منجمده) طبقی نیسی؛ په همدی ترتیب هرکال دمالګې بیخ ته کښیناستلې طبقې یو په بل غوندې پیږی او ډ ریږ کیږی، دمالګې پنډوالی په هر کال کښې دجوی حادثاتو له تاثیراتو سره سم له یوه نه تردوو انچو پوری تفاوت لری .

دمالګې دایستلو تر تیب د خښتو په شکل دمالګې د تختو پریکول دی چه دتبر پەذریعه د تالاو دوچې مستوی سطحې په مخ باندې صورت نیسي. دمالګې دطبقو پریږوالی پەدری څلورو کالو کښې له څلورو نه تراتو سانتی پورې رسیږی .

د مالګې ایستل تر ۱۳۱۹ کال پوری د داخلی اجاره دارانو په لاس کښې ؤ او آخرنیږ کالنیږ اجاره یې بولک اوپنځلس زره افغانیو ته رسیدلی وه . د ۱۳۱۹ کال نه وروسته د کانو وزارت دغه کان د خپل یوه عمومی مدیریت له اداري لاندی ونیو چه مرکز یې په اندخوی کښې ؤ . اوس دکان دفتر دکان په حوزه کښې دی . هغه زیاتوالی چه آخر دکان پەعایداتو کښې راغلی دی د تیروکالو له مقایسې سره په لاندی ډول دی :

د۱۳۲۹ کال له حمل نه د قوس تر آخره پوری نهه میا شتینی خرڅون ۸۴۰۱۱۶ منه

د ۱۳۳۰ کال لەحمل نه د قوس تر آخره پوری نهه میاشتینی خرڅون ۸۴۶۱۱۱ منه

د ۱۳۳۱ کال له حمل نه د قوس تر آخره پوری نهه میاشتینی خرڅون ۵۹۰۰۲۰ منه

د۱۳۳۲ کال لەحمل نه د قوس تر آخره پوری نهه میاشتینی خرڅون ۷۰۰۴۱۲ منه

د ۱۳۳۳ کال له حمل نه دقوس تر آخره پوري نهه میاشتینی خرڅون ۸۹۱۰۴۰ منه

هغه زیاتوالی چه په ۱۳۳۳ کال کښې لیدل کیږی :

نسبت د۱۳۲۹ کال له حمل نه دقوس تر آخره پوری ته ۵۰۹۲۴ منه دی

چه بیه یی ۸ ، ۲۲۷۸۱۵ افغانیږ کیږی.

نسبت د۱۳۳۰ کال له حمل نه د قوس تر آخره پوری ته ۴۴۹۲۹ منه دی.

چه بیه یې ۴۳ ، ۲۰۹۸۱۸ افغا نیږ کیږی.

نسبت د۱۳۳۱ کال له حمل نه دقوس تر آخره پوری ته ۳۰۱۰۲۰ منه دی.

چه بیه ئی ۴۰ ، ۱۴۰۵۷۶۳ افغانی کیږی

نسبت د۱۳۳۲ کال له حمل نه دقوس تر آخره پوری ته ۱۹۰۶۲۸ منه دی.

چه بیه ئی ۰۹ ، ۸۹۰۲۲۸ افغانی کیږی

د دغه کان د مالګې کیمیاوی ترکیب : کلور ډو سو ډ یعنی د طمام مالګه په سلو کښی ۶۹ ، ۹۸ سو لفات ډومګنیزیا په سلو کښی ۳۱ ، . سولفات ډوکلسیوم په سلو کښی ۵۲ ، ۰ کلوډمګنیزیا په سلو کښی ۶۸ ، ۰

د پورتنیو تجزیې له مخه لیدل کیږی چه دمالګی جنسیت د انسان د خوراکی لپاره په همدغه طبعیی صورت سره ښه دی اما که تصفیه شی بهتره به وی ، دخرغون مارکیټ یې میمنه او مزارشریف دی .

دهرات نمکسار : دا نمکسار د سلو میلو په مسافه د هرات جنوب غرب پلو د افغانستان او ایران په سرحدی خط کښی واقع دې ، د ټولې حوزی مساحت یې یو سلو پنځو سومربعو میلو ته رسیږی . مرکز یې دشرقی طوالبلد دخطې ۶۰ درجو او ۳۰ دقیقو او د شمالی عرض البلد په ۳۴ درجو کښی دی ددی کان مالګه داندخوی دمالګی خاصیت لری او په ټول هرات کښی خرڅیږی . سربیره پردی دوه پاسینو نمکسارونو دخلم نمکسار ، چه ددغه ښار په شمالی اته میلې کښی دی ، هم دیاد لووړدی ، مالګه یې نګه (خالص) نه ده ، په سلو کښی د پنځو نه زیات کلسیوم کولور یډ او د سوډ یوم أو پټا سیوم د کار بونو مالګی لری . ددې کان مالګه د حیواناتو دخوراکی په مصرف رسیږی . دایستل شوی مالګی اندازه په ۱۳۳۳ کال کښی ۱۴۰ ټنه وه او عایدات یې اوه لکه افغانیو ته رسیده دمقر په ملک دین خیلو کښی هم یو قسم ښوره ئی مالګه له یوی چینی نه ، چه اوبه یې تروی دی، حصول کیږی او په هغې کښی یوازی په سلو کښی ۴۵ د خوړو مالګه شته چه د انسانانو او حیواناتو د خوراکې په مصرف رسیږی .

د فلزی موادو ذخیرې : د ابتدائی کشفیاتو په اثر ، چه په اخرنیو شپیتو کالو کښی شوی دی داسی نتیجه اخستل شوی ده چه په افغانستان کښی په لاندی ډول کانونه شته خو پوره تحقیقات تر اوسه نه دی شوی. د اقتصادی اهمیت له نقطه نظره دا کانونه په لاندی ډول وپشواو د هر وه په باب کښی تشریحات کوو :

۱ ـ د سرو زرو کانونه : سره زر په دی مملکت کښې په دوه ډولو پیدا کیږی . اول «ریف ګولډ» یعنی سنګی طلا په ډول چه د بدخشان په (دیشوراغ) کښی شته دی او د ابتدائی څیړنې سره سم یوه ټن متریک خه ناخه درې ګرامه سره زر لری . دوهم د قندهار د سروزرو کان چه اوس بندی او ټول سره زر یې په تیرو کالو کښی ایستل شوی دی ، د قندهار د خاکریز د ښار په دره کښی او په یو بل ځای کښی دسروزرو ځینی نښی د کورتس تیږی څخه مه کښی لیدلی شویدی .

۲ ـ هغه سره زرچه له زر شویې مخه لاس ته راځی : دا ډول سره زرد بدخشان په کانی حوزه کښی شته او د کوکچی دسیند په اوږد والی کښی د حضرت سیدله برخی مخه د نوموړې سیند د ګډیدو ترحده پوری په آمو کښی، اوددرواز له برخی نه د قطغن دقلعه زال ، داغ درو ،داونګ ، چهل کان شهراونور آبی پوری دیو شمیر نفرودزرشوئی په ذریعه حصول کیږی . دا کار په ډیرو ابتدائی او ساده وسیلو سره اجرا کیږی . دغه راز ډر شوئی له ډیرو پیړیو راهیسی په دی سیندونو کښی کیږی . دزرشوئی حاصلات د ۱۳۱۸ کال نه تر ۱۳۲۲ پوری په کال کښی اوه زره مثقاله سروزروته رسیدلی وومګروروسته د عایداتو د کموالی په اثر دزرشوئی چارې د حکومت په امر معطلی شوی. دسروزرو اندازه د فرانسوی موسیو بر نا به له تحقیقات سره سم ، چه په ۱۳۲۷ کال کښې د کانو د وزاوت له خوا استخدام شوی ؤ ،په یوټن متریک کی ۳۰ میلی ګرامه ده. ددی منطقې دسره زر لرونکو شګو د عمومی مقادیرو اندازه تر اوسه پوری تعیین شوی نه ده .

۳ ـ د سپینوزرو کانونه : د سپینو زرو د کانو موجودیت په حقیقی صورت سره تر اوسه مونږ ته نه دی معلوم ، خو ویل کیدلی شی چه د پنجشیرد اولی حصی علاقداری سره مربوط د امرز له حصی نه د خاواک تر غاښې پوری په دیرش میله اوږد والی کښی د کلینیت (دسرپو کانی فلز) درګونو له منځه استخراج شوی دی دا حفریات ښائی د چنګیزد حملی نه مخکښی زمانې پوری (اوه سوه یازر کاله په خوا) مربوط وی. خه رنګه چه په ۱۳۲۷ او ۱۳۲۸ کال کښی د کانو د وزارت له خوا تحقیقات و شو د پنجشیر سپین زر د کانی سرپو د همدغو رګونو له منځه حصول شویدی او دغه رګونه یوه اندازه سپین زر لری . بل مهم ځای ، چه د زیاتی څیړنې وړ ګڼل کیږی د هرات سیم کوه دی په دې ځای کښی هم د کانی حفریاتو کار په پخوا زمانو کښی شویدی .

د قندهار د خاکریز په بی بی ګوهر کښی له کیمیاوی تجزیی سره سم د سرپواوجسو په رګونو کښی د سپینوزرو موجودیت ثبیت شوی او دغه مقدار دتوجه وړدی ، اماتر اوسه نه دسرپو او جسو کان په کار اچول شوی دی او نه دسپینو زرو ایستلو ته کوم اقدام شویدی .ددی کان په خوا کښې په دری پانځه سوه متره اوږد والی کښی په خوازیات حفریات شوی دی چه پانځه یالس متره ژوروالی او یو متریې قطردی او اورمرو د سرپو د کنسنترات او د سپینو زرو د استحصال لپاره اجرا شویدی .

دمسو کانونه : په افغانستان کښې دمسو کانونه د (کاپر پیریټ) او (مالاخیت) په ترکیب او ګډون ډېردی چه مهم یې دلته په لاندی ډول بیانوو :

۱- دکـهنه‌خوار دمسو کـان : داکـان دکـابل په غربـی اته‌دیرش میلی اودکوته عشرو (دمیدان دحکومت مرکـز) په‌شمالی پنځه میلی کـنې دی ددې کـان جنس‌د(کـاپر پیریټ) سره ترکیب اودتورونگو سیلټی تیږو په‌منځ کـنې‌دی . ذخیره‌یې لږه‌ده اومهمه نه‌شمیرله کـیږی .سربیره پردې دکـابل دچکـری دمناردغره جنوبی خواته دسی‌سی په‌تنگی کـښی اود چکـری دمنار په‌شاوخوا کـنې هم‌دمسواثارد (مالاخیت) په ترکیب سره لیدل‌شوی اودسی‌سی په‌تنـگی کـښې دپخوا زمانو استخراجی حفریات هم‌په‌زیاته اندازه لیدل‌شویدی .

۲- دپنجشیردزمان کورد کـاپـر پیریټ کـان : ددې کـان جنس کـاپرپیریټ‌دی‌چه د(میټامورفزم)اوچونه‌ئې تیږې د تماس په‌اثر، چه‌مرمر گرزیدلی‌دی، دهمدغه‌سنگ مرمر په منځ کـنې پیداشویدی . ددغه کـان‌اصلی رگـ په‌خلوینټ یاپنځوس‌سانتی پریږوالی اوځه‌ناځه داتیا درجو په استقامت له غرب نه شرق‌ته اوزدوالی‌لری دنوموړی‌رگ‌په‌سطحې کـنې‌د(مالاخیت) ترکیب یعنی‌دمسو کـاربونات په‌مخصوص سور اوشین رنگ سره‌لیدل کـیږی ؛ مگردمسواصلی رگـد کـاپرپیریټ له ترکیب‌څخه‌دی اودابتدائی سنجش په‌اساس دمسوفیصدی مقدار په‌دې کـان کـنې دتوجه وړدی؛ خوتـراوسه ددغو مسو جیالوجیـکـی خیـړ نـه او کـیمیاوی تجزیه په‌اساسې‌صورت سره‌نه‌ده شوی .

۳- دپسگرانو دمسو کـان : داکـان دپنجشیر د (۲) حصې دعلاقه‌داری له‌مرکزځخه په‌شپیږ میله مسافه دهزاره ؤ ددرې په منځ اودپسگرانو دکـلی په‌جنوبی خوا یونیم میلی کـنې ددرې له‌سطحې نه ځلوینټ یاپنځوس مترہ جگ واقع دی .

دکـانی‌رگـ پریږوالی ځه‌ناځه شـل سانتی او اوزدوالی یې (ترهغه‌حده چه‌اوټ گروپ)ئی‌ښیی پنځه‌مترہ‌دی . پاته بر- یې په‌غره کـنې‌دننه ښکـته‌لاړه‌ده . ددې کـان‌جنسیت(کـاپرپیریټ) دی اودمسوفیصدی مقدار په‌دې‌ځای کـنې دزمان کـورله مسونه زیات دی دپیدایښت توگـه یې دزمان کـور دکـان غوندې ده؛ لـکـن‌تجزیه یې لاتراوسه په‌لاس نه‌ده‌راغلی .

٤- دپنجشیر په‌بازارك کـنې دجنگلك د مسو کـان: داکـان چه‌دولس میله‌درخې شمال‌غرب پلوواقع‌دی ،دپنجشیر د بازارك دخلـکـو په عرف کـنې دجنگلك د(طلاکـان) په‌نامه یادیږی دغه کـان دخاص‌بازارك شمال‌غرب لوری‌ته په شپیږ میله مسافه اودجنگلك له‌کلی‌نه اته‌سوه مترہ لوړ دناوه پیچ په غره کـنې واقع دی . په دې کـان کـنې په پخوا زمانو کـښې ډیر زیات حفریات شویدی . ددې کـان جیالوجی ترکیب د زمان کـور اوپسگرانو دمسو جوړښت غوندې‌دی چه تشریحات یې شویدی یوالخی‌دومره قدرې ده‌چه په‌دې ځای کـنې دنوی میتا مورفـزم غرانیت اود (کـیزکلیمر شیفر )تیږو د تماس په اثر پیداشوی اوعبارت له‌دوه کـانی رگـونوځخه دی چه‌له‌دریوځخه تر ځلورو مترو‌پوری پریږوالی‌لری اویوله‌بله په‌پنځوس مترہ لیری والی یوپربل برسیره‌ددې غره په‌شرقی اړخی کـنې واقع دی . اوټ گروپ‌یې له‌یوسل وپنځوسوته تردرې‌سوه مترو پورې دځمکـې په‌مخ‌ایدل کـیدلی‌شی په‌پاسنی‌رگ کـنې دسورنگ غار چه‌آخر ئې مسدود شوی اودکـان عبدالقادر په نامه مشهور دی لیدل کـیږی اودمسو دکـاپرپیریټ کـانی رگـ پـکـنې دوه مترہ پنډوالی‌لری اودکـانی‌رگـ‌په اوزدوالی کـنې دمالاخیت آثار هم‌پر لیدل کـیـږی . دمسو په لا ندینی رگـ کـنې درې مسدودو سور نـگـونه د « کـان مـلا » او« کـان کـلان » او« کـان ناشناس» په‌نومونو شته‌دی.دې حصونه‌ښکـته هم‌دغه کـانی رگـ دوام اواوزدوالی ښکاره کـیږی اوپه شل مترہ اوزدوالی اودوه‌مترہ پریږوالی اویومتر پلن والی سره پکـنې حفریات شویدی .

کـه‌څه‌هم‌ددې کـان دذخیرې په‌باب کـنې ، ترڅوچه درې واړه یادشوی سورنـگـونه غونډ سروی اودپخوانی استخراج اندازه اودپاته مسو ذخیره اوتولې طبقې سنجش نشی، نظریه ورکول ناممکـن‌دی خوسره له‌دې‌هم وبل کـیدلی شی چه دغه کـان دمسویوډپر شته‌من اوسترکـان‌دی چه‌تراوسه په‌افغانستان کـنې لیدل‌شویدی اوهم څه رنگه چه دمسو په هرکـان کـنې دزلفیدی له‌ترکیب‌څخه یومقدار سره زر موجود وی نوله دغه امله‌هم داکـان خاص اهمیت‌لری .

سربیره‌دمسو پر دغو کـانو اوذخیرو دقندهار داروزگـان دسختی په‌غونډی‌کـنې (مالاخیت) اودمقر په‌اوت قول کـنې (مالاخیت) اودفـراه د(ناله آب) په غـره او «نی بسته جان» اومسگرانو کـښی اودهرات په غوراتو کـنې (کـاپرپیریټ) اودمسوډپری ذخیرې شته دی . همدارنگه په «تورغره کـښی» دقندهار دولایت په خاکـریـز کـنې هم دمسو د کـاپر پیریټ یوکـان لیدل شوی چه دجسو دیو قسم زیلیکات سره گـډ دی اوهـم په دې ځای کـنې اوهـم دفـراه د «نی بسته جـان» او «مسگران» او «مس خانې» په‌کانو کـښی په‌پخوا زمانو کـی پراخه حفریات شویدی .

په افغانستان کـنې دسرپوکـان کانونه :

۱ - دغوربنددفرنجل دسرپوکـان : داکـان دکـابل څخه شمال خواته په ۱۳۳ کـیلومتره مسافه دغوربند په‌دره کـښی دگـالینیټ (Galenite) په ترکیب دسور بخنو چونه ئی طبقو په‌منځ کـښی دجغرافیائی خط په ۳۵ درجو شمالی عرض‌البلد او٦٨ درجواو ٤٠ دقیقو شرقی طول‌البلد کـښی واقع‌دی . دفرنجل دسرپوکـان په دوه کـانو مشتمل‌دی، یوه‌ته «شرقی‌کـان» اوبله‌ته «غربی‌کـان» وائی . شرقی کـان ډ ډر پخوانـی دی او دمسترلیمن امریکـائـی

جیالوجست درپوټ په‌اساس، چه‌په ۱۳۲۸کال کښې په‌افغانستان کښې مستخدم ؤ، د۳۰۰ ق‌م کال نه ترعیسوی څور لسمې پیړۍ پورې یعنی ۱۷۰۰ کاله ترېنه استخراج شوی او کوم وخت چه چنګیز په افغانستان باندې حمله او استیلا کړې نو ددې کان کار پرېنودل شویدی .

اما په‌غربی برخه کی یې سل‌کاله پخواکار شروع شوی‌دی اوډاکټر لور ډپه ۱۹۳۸ اومستر کولینز په۱۸۹۳ اوهربورډ المانی په ۱۹۲۵کال کښې دسرپوددغه کان‌په‌باره کښې مکمل رپوټونه ورکړی دی .

جیالوجی جوړښت : دفرنجل دسر پوکان د ګالینیټ او سفیلیریټ (Galenite and Sphelarite) له‌ترکیبه‌دی‌اودمیټا مور فزم یوډول شیست اوچونه ئی تیزو دتماس دعملیاتو په‌اثر په‌هغو کښې پیدا شویدی . دشرقی کان یوشمېر سورنګونه ، چه په ۱۳۲۳ کال کښې سروی شوی، څو میله اوږ دوالی لری او دیوه‌لابرینټ (Lebrinet) په‌صورت ډېرسورنګونه اوتنډیلونه په شپیته سانتی پلن والی او اتیا سانتی جګ والی او پنځوس تراویا سانتی اوږدوالی پوری لیدل کیږی. دسروی د عملیاتو په‌وخت کښې هلته دځوښځو اوسړیو کالبو تو نه ولیدل شول چه تراوسه یې دبدن پوستکی او وینتان د سکلټ په مخ لیدل کیدل اوپه ناستی یی ساوتلی او مړه شوی وو، ګمان کیږی چه دغه اشخاص دسرپو موندلو لپاره په سور نګ کښې ننوتلی او وروسته یې دوتلولاره نه‌ده موندلې اومړه شویدی . غربی‌کان له شرقی کان‌څخه‌څه‌ناڅه نیم‌میل فاصله‌لری . دایستلو کاریی په ۱۸۵۰م کال (۱۲۲۹ه ش کال د امیر شیرعلی خان دسلطنت په‌وخت کی) شروع شوی اود ۱۲۹۸ه ق کال پورې یی دوام کړیدی . په دې اوا خر و کښې د ۱۳۲۲ کال (۱۹٤۲ع) نه‌تر ۱۳۲۵ کال (۱۹٤۵ع) پوری ددرې‌کالو لپاره ددغه کان دایستلو کارته دکانو وزارت له‌خوا دوام ورکړ شو او وروسته بیابیرته ټال‌شو . دا دسورنګ غار اتیا متره اوږد پنځلس متره پلن اوپنځه متره لوړ دی . ګالینیټ دسوز بخنو چونه ئی تیزو په منځ کښې دغو نچو اوځالو په ډول شته دی کیمیاوی تجزیه : سرپ په سلو کښې ۹ او جس په سلو کښې ۳ دی . دسپینو زرو مقدار نه‌دی تعیین شوی ښائی نه به‌وی .

ذخیره : دښاغلی‌لیمن د تخمین په اساس ددې‌کان داستفادی وړپاته ذخیره څه‌ناڅه ۲۲۱۰۰۰ ټنه‌کانی سرپ دی، مګر امکان لری چه دزیاتی ځیرنی اوداستخراجی عملیانودختم په‌اثردسرپو ډېرې ذخیرې لاس ته راشی .

دسرپو دپه‌لاس راوستلولیار : دکانی سرپو په‌لاس‌راوستل په پخوانیو اواوسنیو زمانه کښې په ډېر ابتدائی سیستم سره کیږی، یعنی سرپ اول په‌لاس له میده اوټکېدلی چونه ئی‌ډبرې څخه بیلوی، بیایی ژرنده کوی اوبری مینځی ئی او کنسنترات یی اخلی، وروسته‌یی دویلی کولو په مخصوصه‌کوره کښې‌اچوی اودولی په لرګی‌یی څه قدرې لږی ترڅو چه‌دغه لرګی دتودو سرپو په‌مینځ کښې‌وسوځی اودهغه په‌اثر دسرپو ترکیبی ګوګړ په کیمیائی صورت سره هواته وا لوزی اونګه (خالص) سرپ پاته شی . دفرنجل ځلك په‌دې صنعت کښې یوخاص مهارت‌لری اوپه همدغه ساده توګه سرپ لاس ته راوړی . دسرپو ویلی کولو په اثر په۱۹٤۲ع کال کښې‌دکانو وزارت ته معلومه شوه چه حصول شوی سرپ داقتصادی وسایلو دنشتوالی له کبله په سپما (صرفه) نشی تمامیدلی . دې سرپونه په‌تیرو زمانو کښې دتوپکو دمرمۍ دکوجوړولو لپاره کار اخستل کیده او په دی اواخرو کښې دکانو دوزارت ایستلی سرپ په سرغچ جوړولو لګیږی .

۲ ـ دقندهار دبی‌بی ګوهر دسرپو اوجسوکان :

جغرافیائی موقعیت : داکان دقندهار دخاکریزدبی‌بی‌ګوهر په غره کښې دشمالی عرض‌البلد د۳۲درجو او ۷دقیقو اودشرقی طول‌البلد د٦۵ درجو او ۳۳ دقیقو په خط باندې واقع دی او دقندهار په ۸۲ کیلومتری کښې دقند هار اوکجکی تر مینځ نوی سرک څنګ ته د (قلعه آسد) په خواکښې د بی‌بی ګوهر دغره شمال‌غرب پلوری .

جیالوجی: په دې‌کان کښې، دپورفیری دتیزو د میامور فزم اودسپینو چونه ئی طبقو دتماس‌په‌اثر، دجسوسرپ د کانی رګ په‌صورت‌سره پیداشویدی. دنوموړی کان‌په‌شرقی او غربی‌برخو کښې د ونسونیټ پرېږې تبزې (کنګ ها) دچونه ئی طبقو په مینځ کښې لیدلی کیږی .

ددغه‌رګ داوږدوالی خط د شمال‌غرب په‌لوری دی‌او ٤۲ درجی شرق پلو میلان هم لری . ددغوکانی سرپواو جسوداوپ ګروپ اوږدوالی پنځو س متره اونهائی پلن‌والی یی لس‌متره او د ننه‌په‌غره کښې د رګ ژوروالی سل‌متره تاکل شویدی . اساسی کشفیات اوتدقیقات : د ۱۹٤۹کال‌له دسامبرنه د۱۹۵۰ تر جنوری پوری د قندهار د موریسن کمپنی په‌ذریعه ، دکانو د وزارت په مصرف ، دډوایټ لیمن د امریکا جیالوجیکی‌سروی دادارې جیالوست ترنګرانی‌لاندې د تخنیکی‌مرستې په اساس د کومک‌په‌پول(٤۱۱)متره برمه‌کاری‌شوی اونمونه‌یې دامریکا (بیروآف مایینز) په تجزیه خانه کښې په بنه‌اساسی‌توګه‌تجزیه شوی ده . ددې علمی برمه کاری اونمونه ګیری د عملیاتو او د جیالوجی مکملو تدقیقاتو اواساسی تجزیو په اثر ، چه‌په‌دغه کان کښې‌شوی‌دی، لاندینی نتیجه لاس ته‌راغلی‌ده :

دایستلوورسرپواوجسویقینیاو تخمینیذخیره- ٦۹۰۰۰تنمتریک

جس په سلو کښې - ٤ ، ۳۰
سرپ په سلو کښې - ۸ ، ۷
کتمیوم په سلو کښې - ۲ ، ۰
سپین زرپهیوه تن متر یک کښې - ۱۸۷ ګرامه
سرهزر پهیوه تن متریک کښې - ۲ ، ۰ګرامه

۳ ـ ددره نوردسرپو او جسو کان : دا کان هم د قندهار د خاکریز په درهٔنور کښې واقع دی ، کشفیات یې په ۱۳۱۷ ه ش کال کښې ، د ډیلوم انجینز شوېتسرالمانی د کانو دمختلف شرکت (افغان ـ المان ) تخینکی آمر تر نګرانۍ لاندی په اساسی صورت سره وشول ، ذخیرې یې کافی او سرپ او جس یې دتوجهوړدی .

پرته له دې د بدخشان پهدرواز ، دره کران اومنجان اود پنجشیر په (توریاب ، پاشار،غوری اوچقری نو)اودهزارهجات دکرمان په سرب کوتل او دهرات په شهرک ، غورات ، سیب تلخ او سیم کوه کښې د سرپو یو شمېر کانونه شته دی اوله ډېرونه یې پهپخوازمانو کښې په زیاتو اندازو استخراج شوی هم دی. نو ویل کیدلی شیچهافغانستان دسرپوښه اوزیات کانونه لری په افغانستان کښې د اوسپنی کانونه :

۱ ـ د قندهار دخاکرېز په نیش کښې دحاجی علماوسپنی کان : دا کان دقندهار دښار پهشمالی خوا دریاومیلۍ ، دحاجیعلم دکاریزمعروف پهبرخه کښې ، د شمالی عرضالبلد د۳۲ درجو او ۱۸ دقیقو او د شرقی طولالبلد ٦۵ درجو او ۳۳ دقیقو په خط باندی واقع دی ،

جیالوجی جوړښت: نوموړی او سینه د کانی فلزو دیوې سترې ګل دستی پهصورت ، چهپه علمیاصطلاح ورته «شتوک» وائې د غرانیت او چونه ئی ډبرو دتماس پهخط کښې د میتامور فزم دتماس د عمل په اثر پیداشوی ده ، جنسیت یې هماتیټ او مګنیټیټ دی . سربیره پردی د اوسپنی د کار بوناتی مرکباتو موجوده اثار لکه زیډبریټ او لیمو نیټ هم لیدل شو یدی .

کیمیاوی تجزیه:اوسپنهپهسلو کښې ٦٤،۱۷ دتیتان یو ازی نښی لیدلې کیږی، ګوګړ ۰،۰۱دفسفورفیصدیاکثریتپهسلو کښې۰،۰٦ دځمکې پهمخ دتخمینی سنجش لهمخی دکاناذخیره څه ناڅه درې میلیونه تنه معلومیږی اودبرمه کارۍ عملیات یې تر اوسه نهدی شوی .

دکان څخه لاندې حصې پوری ئی لاره شته او په نږدې شاوخوا کښې یې عمرانات او ودانۍ نشته، مګر دکان سره نږدی دچنلو اوبه اوداستو ګنی لځای شته دی .

حفریات : پخوا متعدده حفریات شوی چهښهستر یې یوسلو پنځوس فوټه او ژد ، ۱۰۰ فوټه پلن او۲۰ فوټه ژور دی . دکان په لمرخاته خوا کښې دویلی شوی اوسپنې یوه زیاته اندازه سیینخرې لیدل کیږی چهدپخوا زمانو داوسپنیدحصول اوویلی کولو نښې ښیی .

۲ ـ دقندهار دخاکریز دچنار مانوخیل داو سپنې کان : دا کان دقندهار دښار پهشمال شرقی خوا ۵۲ میلۍ ، دیبیبی ګوهر دسرپو دکان جنوب غرب پلوته، دچنارمانوخیل په کلی کښې واقع دی اوجنسیتیې هماتیټ دیسره لهلیمو نیټ .

ذخیره : ددې کان پنځه لکه تنه ذخیره په تاریخی زمانه کښې یعنیدافغانستان دکوشانی کورنۍ دسلطنت پهوخت کښې زیات شهرت لری اوداوسپنې داستخراج او استحصال حفریات په زیاته اندازه شویدیچه دکانو دمتخصصینودکتنې پهاساس په ۱۳۲۸ کال کښې پخوانی حفریات هم هلته پیمایش شویدی .

۳ ـ دجبلالسراج داوسپنې کان : دا کان دپروان پهاعلی حکومت پورې مربوط دجبلالسراج دصناعتی ښار په شمالیشپږ میلۍ، دجبلالسراج پهدره کښې واقع دی .

جیالوجیکیجوړښت : دغهکان دهماتیټ درګ په منځ کښې واقع اودجیالوجیددینونیان پهزمانې پورېمربوط دی او غربی خواته دهزارهجات دبهسودو حاجی ګګپوری او دشمالخواته دخاواك ترغاښې پوری دپنجشیر ددرې په شمال کښې څوسوه میله اوزدوالی اوتر پنځو سوو مترو زیات پرپروالیلری . جنسیت یې هماتیټ دی او دلیمونیټ او زیډریټ مرکبات هم پکښې لیدل کیږی .

دکان دایستلو تاریخ : دنو موړی کان داو سپنی ایستلو تاریخ ډېر پرومښنی اوخه ناڅه دوه زره کاله پخوانی دی. کوم وخت چه هیسوان تسانګ چینی زائر په (٦۲۹ ـ ٦٤۵) میلادی کښېدسیاحت اوبودائی لځایونو دزیارتلپاره افغانستان ته راغلی وۍ اودامالبلاد(بلخ)نه کاپیساته راغلی دی، دغه کان یی لیدلی اودخپل سیاحت په کتاب کښې یی هغه یادکړیدی . نوموړی لیکلی دی چه دکاپیسا خلکو له دې کانه یوه زیاته اندازه اوسپنه ایستلی وه او وسلې اونور سامانونه یی ترینه جوړول . ورو سته له هغی نه په ۱٦۰۲ ـ ۱٦۰۳م کال کښې (پینی ډیکټ کیوز) عیسوی سیاح هم دا کان لیدلی اوله هغه څخه یې داوسپنې داستخراج په باره کښې خبرې کړیدی . همدارنګه ابن بطوط اویاقوت حموی هم په څور لسمه عیسوی پیړۍ کښې په افغانستان کښې سیاحت کړی او تولو ددې کان نوم ذکر کړیدی .

پهدې کان کښې ډېرپراخه حفریات لیدل کیږی چهپخوانۍ

کار کردگی ثابتوی . دچاریکارو خلك، چه په چاکو سازی اوداوسپنی بیل او کولنگ او نورو آلاتو جوړولو په پښ کاری کښی زیات شهرت لری، تراوسه له همدې کانه استفاده کوی .

٤ ـ دبد خشان دارغند شخواه داوسپنی کان : دا کان دفیض آباد دښار په شمال شرقی خورلس میلی کښی دپایان شهر کلی ته نژدې واقع دی . اوسپنه یی دهماتیټ له جنسه ده . داکان هم تاریخی شهرت لری. ډېره مهمه خبره داده چه تراوسه هم دپایان شهر محلی پښان دغه اوسپنه راوباسی او په فیض آباد اوپایان شهر کښی یی ویلی کوی او بدخشانی چودنی دیگونه تیلی څراغونه، آونگ، بیل او کولنگ اونورشیان ترینه جوړوی .

پرته له دغو کانو دبدخشان دشغنان په غاران کښی هم داوسپنی کان، دمگنیټیټ په ترکیب، شته دی اود شغنان خلك خپله کار آمد اوسپنه له همدې ځایه په لاس راوړی او تردې چه دشغنی مشهورو پولادو یه جوړولو کښی پوره دسترس هم لری. د هرات په غورات کښی هم داوسپنی کان شته دی چه محلی پښان ورنه داوسپنی آلات اواسباب جوړوی .

د کرومیټ کانونه :

جغرافیائی موقعیت : دکابل نه ۲٤ میله لیری، دلوگرد محمدآغا په حصه کښی د کرومیټ ډېر کانونه شته دی . داکانونه په یوه خط کښی،چه دمیدان له تور غره نه د لوگردو اغجان ترتنگی پو ری ۲۸ میله اوږدوالی لری، پراته دی .

داذخیرې د ۱۳۲٦ کال نه تر ۱۳۲۸ پورې د کانو وزارت دمتخصصینو په ذریعه کشف شویدی . ددې ذخیرو له جملی څخه دلمبر(۲)، (۳) او (٥) کانونوته پوگرافی، جیالوجیکی مکمله سروی، برمه کاری اونورې انکشافی چارې د قندهار دموریسن کمپنی په ذریعه، دکانووزارت په مصرف، دمستر ولټن دسروی انجینیر دتخنیکی نگرانی لاندې اجرا شویدی .

جیالوجی : دنوموړی کرومیټ ذخیرې د سرپنټین دیوډول پریږو طبقو سره، چه په حقیقت کښی ساکو نیټ پیرو کسینیټ دی، پیداشویدی، ددې طبقو په خواکښی دبازلټ داو زدو او پریږور گونو طبقی، چه یو ډول آتش فشانی تور بخنه قلوی تیبزه ده، لیدلی کیږی . د کرومیټ ذخیرې ذ مختلف الشکل کانی جسم په صورت اوخینی دمثلث په شکل او کله داوزدو لیزونو په څیر اوتریو حده دوړوتوته په ډول پیدا کیږی. ددې ذخیرو ډیره مهمه (۲)، (۳) او (٥) ذخیره ده . داکتشافی عملیاتو په توگه په دې کان کښی ۷ ،۹۷٥ مترە هستهئی برمه کاری شوی ده او ټول اوه ویشت ځایو نه برمه کاری شویدی چه د هغی جملی نه خورلس ځایونه دنوموړی کرومیټ په تحت الارضی رگ کښی ښکته تللی دی اوځه ناځه ۱۰۱ نمونی د تجزیی لپاره اخستل شوی اوپه امریکا کښی تجزیه شوی دی .

کیمیاوی فورمول اوفیصدی مقدار : نوموړی کرومیټ په $CR_2O_3$ فورمول دFeo اوسپنی له اکسایډ سره گډ او له کروم سره داوسپنې تناسب بو په مقابل ددری دی. دامتحان شوو ذخیرو دکروم مقدار په سلو کښې له ۳٥ نه تر ٥۹ پورې دی او وسطی حدیې په سلو کښې ٤۸ دی چه دکرومیټ ډېر اعلی جنس گڼل کیږی دکروم د خرڅون وړ ذخیری د نوموړو انجنیرانو له خوا ۱۸۰۰۰۰ ټنه متریك سنجش شوی اودکروم خورا غوره ذخیره (۲) لمبر ذخیره ده .

بیریل : بیریل دمشرقی دولایت ددره نور په یوغره کښې ، چه نوم یې (کاشمونیت) دی، شته چه دجلال آبادنه ۱۸ میله شمال او شمال شرق خواته فاصله لری. دپیدا کېدو ځای یې دجلال آباد (۳۸ گ) لمبر شیټ په مخ (جی کارترمیل) اودشمالی عرض البلد د ۳٤ درجو او ٤۱ دقیقو او دشرقی طول البلد د ۷۰ درجو او ۳۲ دقیقو په خط باندې په ډره سرور کښې ، چه ددره نور یوغربی ښاخ دی ، موقعیت لری .

جیالوجی : بیریل په تخمینی مقدار سره یو زرتنه د ( پیك ماتیټ) په پنځلسو رگونو کښې ، چه دغرانیت له ډبرو څخه یو خاص قسم دی ، دسپین ابرك دکورتس له بلورونو، ، فلتسپار ، او کیټ او نورو سره پیدا کیږی .

دتور، تورمالین بلورونه او د گرانات او توپاس کوچنی کریستلونه هم پکښې لیدل کیږی . بیریل لرونکی پیك ماتیټ له پنځوس سانتی څخه تر یوه مترە پورې پرې والی اوله ۱۰ تر ۲٥۰ مترە اوږدوالی اوله یو څخه تر څلور مترە پلن والی په اندازه دلته پیدا کیږی اودبیریل ډېرستر کریستل ، چه تراوسه پیداشوی، ۱٥ سانتی قطر او ۲۰ سانتی جگ والی لری .

کیمیاوی ترکیب : دا ، کیپ بریلیم اکسایډ دی اودبیریل مقداریی په سلو کښې یوولس تثبیت شویدی .

په دی کان کښې اول واړې په ۱۳۲۸ کال کښې په اکتشافی طور اوبیا په ۱۳۳۳ کال کښې داستخراج په مقصد عملیات وشول چه ایستلی شوی مقدار په دواړو وختو کښې شپیتو ټنو ته ورسید .

دخرڅون بازار : څه رنگه چه بیریل دنړی په بازارو په تیره بیادبریتانیې دفلز په کمپنی British Metal Corporation کښې شه خرڅیږی ، نو تراوسه د افغانستان له خوا دلسو نه تر پنځلسو ټنو پورې دیوه ټن بیه څلورسوه اوپنځو سو پالرودنرخ له قراره خرڅ شویدی چه یو اخنی گټه یې دپاملرنې وړده. او کشفیاتی خیرنه یی دوام لری چه پریمانه ذخیرې لاس ته راشی .

پرته له دې دچې دری په حصه کښې ،چه اویا میله دره نور له کانه فاصله لری ، هم د بیریل د پیك ماتیټ ر گونه دکانودوزارت له خوا دپلټنې او کشفیاتو او استخراج لاندې نیول شو یدی .

په‌افغانستان کښې‌دقیمتی اوغوره تیږوکانونه : او له درجه قیمتی تیږی لکه‌الماس ،زمرد، یاقوت او نورپه افغانستان کښې نه‌پیدا کیږی ډیعنی موجودیت یې تراوسه نه‌ده ثبیت شوی . خو سره له‌دې هم‌ځینی قیمتی تیږی، چه‌دنیم جواهرو تیږو په حیث دهیواد په‌داخل اوخارج کښې خرڅون اوپیدا‌ینت لری ، لاندې ذکر کیږی :

لاجورد : پنځه زره کلن لاجورد دنیم جواهر و مشهو ره تیږه‌ده چه خورابنه جنس یې همدغه دافغانی لاجورد و تیږه ده چه‌آسمانی، آبی‌اوخړنیل بخن رنګ‌لری او اکثره دپیریټ له ذروسره (چه زمونږ دملك‌په‌اصطلاح کښې ورته‌سره‌زر وائی ) دبدخشان دګران او منجان دسنګ‌مرمر په‌منځ کښې د لیږونو په ډول پیدا کیږی .

ددې‌لیږونو قطر دلسونه تر پنځلسو سانتی مترو پورې دی اوپه ۱- ۲- ۳- ٤- ٥- اجناسو باندې ویشل کیږی .

استخراج : دتاریخی شواهدو په‌اساس، چه‌دتیږی دزرو په نامه یادیږی، په‌دې‌کان اونورو کانو کښې یې داستحصال لپاره حفریات شوی اواوس‌هم دوام‌لری .دکانو وزارت په‌خوآخرنیو کالو کښې یو زیات مقدار له دې کانه وایستل . او د تصفیې نه وروسته‌یې په‌ډیره مناسبه بیه په‌جرمنی کښې خرڅ کړل .

دبدخشان لعل، بلاس ګرانات (Ballasgranat):

داتیږه‌د ګرانات له کورنۍ‌څخه‌ده اوپه بنفشی اورونږ سور بخن بنفشی رنګ په یونیم تر دوه سانتی تطر د کښې ویکا شیست د ډبرو په‌منځ کښې ،دبدخشان د بهارك دزردیورود په مجاوره پا سنۍ‌ساحه کښې پیدا کیږی .

څه رنګه چه په منځ کښې‌یې ځینی طبیعی در زونه موجود دی ،دلښتۍ‌ اوګوتی اونورو جوړولو لپاره د تراشلو په‌وخت کښې ماتیږی ؛ نو ډېراهمیت نلری ؛ مګر په رنګ سره ډېره روښانه او ښکلی تیږه ده او په افغانستان کښې زیات شهرت لری . خارجیان دې تیږې ته بلاس ګرانات یعنی د بد خشان ګرانیت وائی .

پیازی لعل‌یاامیتست : داتیږه د قندهار دخاکریز د حاجی توپ په دښتو کښې‌پیدا کیږی‌اودقندهار زرګران یی دپیازی لعل په‌نامه‌اخلی‌اوخرڅوی.د کابل‌دحجاری‌ اونجاری‌فابریکه ځینی وخت له دی ښایسته تیږی نه لښتۍ‌ اودګوتوغمی اونور شیان جوړوی . سر بیره پردې نیموجواهروتیږو تور مالین ، سپینل د شامقصود تیږه او نورې هم پیدا کیږی چه اقتصادی اهمیت نلری .

دجیګدلی د یا قو توکان ، سره له‌دی چه‌پوره شهرت‌لری ، خپل موجودیت ثابت نکړ یعنی له دې کان د یاقوتو ایستل تر اوسه اقتصادی نه دی او حاضر وخت هیڅ اهیت نلری .

تعمیراتی ډبرې :

سنګ‌مرمر : په‌افغانستان کښې د سنګ مرمر ډیرې د توجه وړ ذخیری موجودې‌دی‌چه‌تر اوسه‌یې دلسونه تر پنځلسو پوری راز راز او مختلف جنسونه‌لیدل شوی اوښه مشهوربی دمیدان او هزاره‌جاتو دجاغوریو سنګ مرمر دی . اوس دکابل د حجاری‌ او نجاری‌ فابریکی په ذریعه دغه‌دمرمر ډبری دبرش او صیقل د عملیاتو لاندې نیول‌شویدی اوپه‌کابل کښې په ښه‌بیه خرڅیږی او اخستل کیږی .

سنګ رخام : دا ډبره په میمنه اودقندهار په‌ریګستان کښې په سپینو ، سروګلاپی ، زرغونو رونړو اوخړونګونو پیدا کیږی . دتعمیراتی کار آمد بله ډبره دمکنیزیت تیږه ده چه ددی ځای په عرف کښې دباعکې (تشله)تیږې‌په‌نوم‌شهرت‌لری . تعمیراتی ډبری په‌هر رنګ او دبازلت توره تیږه ، غرانیت ،پیګماتیټ، پورفیوردولومیټ اوهرډول چونه‌ئی‌ډبرې پریمانه پیدا کیږی . سر بیره پردی قسم قسم خاورې ، چه تعمیراتی‌رنګ تر ینه جوړیږی،په سور ګلا پی ، شین خاکی ، زیرایرن او تریوحده بنفشه ئی‌رنګ‌سره‌دغور بندپه‌دره ، دهرات‌په‌ګلران ، دغور په مشکان او نورو ځایو کښې ډبری پیدا کیږی . درنګه خاورو له جملی‌څخه‌دکابل‌دقروغ دغره خاوره ډېره‌مشهوره ده .

ګچ : په هرځای کښې خصوصاً د پلخمری دکرکر غره شاته‌په څلویښت مترە پنډوالی دګچ ډبری ذخیری شته دی همدارنګه دورد ګو په پولادی دره کښې شو نیه کلی ته نژدی هم پیدا کیږی .

ګل‌شامست : دا خاوره ، چه مونږ ورته د تناره خټه وا و او دزرو درجو حرارت په مقابل کښې‌مقاومت کوی ، دایش پښتی دسکرو کانونو درګونو لاندی او هم د قطغن په اوکل کښې د آمو د سیند په غاړه موجوده ده .

د صناعتی‌ډبروذخیری : دکاولین‌یعنی چینی خټی‌ذخیره‌د بدخشان په اشکاشم کښې پریمانه وجود لری او جنسیت یی لوړدی . د دو همی عمومی جګړې په وخت کښې ، چه د چینی باپوورود له خارجه کم شو ، دقندوز د پنبی فابریکی د چینی سازۍ‌یوه کوچنۍ‌ فابریکه په قندوز کښې په‌کارو اچوله او دجنګ تر ختمیدو پوری یې د چینی باپو په جوړولو کښې ددی کان له خټی نه استفاده کړه چه تریوی اندازی یی دخلکو دچینی باپو احتیاجاتو رفع کولو په باره کښې د جګړې په پنځه کلنه دوره کښې کومک وکړ .

تالك : (Talkum) داکان دمشر قی دشینوا رو دسپین غره په شمالی اړخی کښی موجوددی او ذخیره یی څه ناڅه یوولس میلیو نه ټنه ویل‌شوی ده . دهغ ځای خلك داکان وباسی او خارج ته یې وړی ، جنسیت یی لوړ اودخر څون بیایې مساعده ده . دروغتیا وزارت ، دډی ډی ټی دواپاشیر لازمه پوډرو د تالك حصولولپاره ، داتیښزه په کال کښی څه ناڅه‌سل‌ټنه‌وباسی .

مګنیزیټ : ددی ډبرې نه که دتکلس دعملیاتو په‌ذریعه مګنیز هیډرواوکسایډ لاس‌ته‌راشی اودمګنیزیم کلورایډ سره ، چه په سلوکښی پنځه اندازه باندی ځلم په‌مالګه کښی پیدا کیږی ګډشی یو قسم سیټ ترینه جوړیږی چه (زورل‌سمنټ) ورته وائی اودکوټو فرش کولو اود کوچنیانو دسلیټ تختو جوړولو لپاره په کار راڅی .

دکاشی جوړولو خاوره : دکاشی جوړولو هر ډول خاوره په بدخشان، چاریاب، رستاق، قندوز، دمزارشریف اوهرات په‌شمارو اواستالف، کوهدامن، کلنګار اودلوګر په شرخ کښی ډبره پیدا کیږی . اوددغو ټولوڅایو په‌کاشی‌جوړولو کښی دچاریاب ، مزار اوهرات کاشی جوړول ډېر مشهوردی .

ګوګړ : داوسنیر پلټنې له‌مخی، په افغانستان کښی دوه لوی کانونه شته .

۱ : ـ دمزارشریف جنوبی‌خواته‌دالبرز په غره کښی دچمتال دګوګړو کان دی . دغه ګوګړ رسوبی دی دترسیری دطبقو په‌منځ کښی‌دی اوتریو ګچی پوښ لاندی پټ دی ، او داکان دیوملیونو ټنو په اندازه اومه ګوګړ ذخیره لری . د دغه کان په‌اومو ګوګړو کښی په سلو کښی (٦۰) ګوګړ شته . هغه خالص ګوګړ چه دمزارشریف دوطنی طرز په ډول سره له دغو اومو ګوګړو څخه په‌لاس راغلی دی او وروسته بیا تجزیه شوی‌دی نو دسلسوس تر (۱۰۰) درجی تودوالی لاندی له وچیدلو څخه وروسته په‌سلو کښی ۱، ۹۹ خالص ګوګړ څخه وتلی دی . دارسینك اوزیلینیوم او ټیلوریم آثار لږ پکښې لیدل کیږی ویل کیدای شی چه دغه ګوګړ له‌دغو وروسته یادشو موادو څخه‌خالی‌دی. دفی‌صدی په‌حساب‌دغه کان داومو ګوګړو اکثره اندازه په سلو کښی تر ۷٤،۳ پوری تا کل شوې ده .

۲ : ـ دبدخشان دسنګ لیچ دګوګړو کان دی . دغه کان دزیباك دحکومت له‌مرکز څخه جنوبی خواته شل میله لهری دبدخشان دسنګ لیچ په دره کښی دی .

ددغه کان دګوګړو ذ خیره دوه لکه ټنه اتکل شوې ده او دفی‌صدی په‌حساب په‌هغه کښی دګوګړو اندازه په سلو کښی شپیته دی .

سربېره پردغو د ( کهمرد ) په سپین د ښت او میمنې په شربن تګاو کی دوه نور کانونه هم شته . اوپه‌همدغه‌شان په سمنګانو اونورو ځایو کښی هم دګوګړو کوچنیر کوچنیر ذخیرې شته .

دریشې ډبری ذخیری : ( سیمنت ) ریشه ډبره د جنوبی په ولایت کښی دخدرانیو په غروکښی اوبدخشان په شغنان کښی شته خو دهغو د ذخیرو د لږوالی په سبب تر اوسه توجه نه‌ده ورته شوې .

دابرك ډبره : دابرکو ذخیری په‌پنجشیر کښی‌درخی‌دشصت دالماس په دره کښی اود میدان په حکمو مت پوری مربوط دټکانې په دره کښی اودبدخشان په کران اومنجان کښی‌شته اود ننګرهار په ولایت کی هم شته . خوز یاته مشهوره ئی دپنجشیر ذخیره ده چه‌په ۱۳۲۲ کښی تر ۱۳۲٤ هجری پوری اوله هغه ډومبی دیوسل ټنو په اندازه له‌هغې څخه ښکل شوی دی . ددغو ابرکو کریستلونه چه‌په‌ءومی‌ډول د (مسکووایټ) له جنس څخه یعنی سپین ابرك‌دی ، په سوراواوږدو (٦×۸) سانتی اوپربړوالی‌ئې ۲ تر٤ ملی مترو پوری‌دی اونری‌پانې هم له‌هغه څخه په‌لاس راتلای شی خو هغه متوازی کر ښی چه د اساسی تورق له‌خط څخه له یوې پنځه څلو ښت در جی زاویې سره دابرکو پرمخ شته نوله‌دغه کبله دنری‌ر په‌بازارو کښی ددغو ابرکو بیه او ارزښت کم شوی دی . او چه په موجوده ابرکو کښی په هیڅ یوه کښی لویی صفحی‌له‌شکست وریخت څخه خالی نه‌موندلی کیږی نوله‌دهغه جهته‌هم‌تراوسه په نړی‌ر کښی خرڅلا بازار نه لری .

دګرافیت ذخیری : تراوسه پوری ددغی معدنی مادې یوه ذخیره یواڅی د پورتنی بدخشان د غارب په‌برخه کښی کشف شوې ده . اودهغی جنسیت ښه او ذخیره‌ئې تردری زره ټنه‌زیاته اتکل شوې ده . اودغه ګرافیت د فلټراتو د ویلولو د کوټالیو جوړولو دپاره چه اوس له خارج څخه راوړل کیږی په ښه ټوګه استعمالیدای شی .

## ۱٤ـ افغانستان ادبیات‌په‌لرغونو زمانو کښی:

په افغانستان کی ادبیات په‌دوو برخوو یشل کیږی . دپښتو ادبیات اودپارسو ادبیات څرنګه چه دادوې ژبی د افغانستان ډبرې لرغونیر ژبی دی نوڅای لری چه د نوموړو ژبو ذکر په خپلو مناسبو ځایو کښی وشی .

اوس دالازمیږی چه وویل شی چه‌ادب له کومې ژبی څخه اوپه‌څه‌معنی راغلی‌دی‌پدی‌باره کی‌تراوسه پوری په‌پښتواوپارسو

کښی چاځه نه‌دی لیکلی، خوداسی څرګندیږی‌چه : ادب، یا اداب له‌عربی‌ژبی څخه، نورو اسلامی ژبوټه را او ښتی دی چه تراوسه لا په ښتو کښی هم عینا مروج او په ژبه کښی بله اصطلاح نه ورته لرو، اوداغربی کلمه مومنلی ده ...

(لحینی پارسی‌لیکوال‌ادب، د(دبیر) دوجود په قرینه پهلوی اوپارسو بولی، خوهرکله چه کوم بشپړ منطق او معتمد دلیل نه لری،یوه مجرده دعوا برښنی ).

په حقیقت کی ادب د زیاترو عصری منوریټو په عقیده له (ادب) څخه‌چه‌دنکاح پوډی ته‌دبلنی په‌معنا راغلی، مشتق دی مګر دزمانی په تیرېدلو سره، ددی لفظ معنا، په لا ندی ډول له اوښتنو سره مخامخ شوی ده .

نلینو مستشرق وائی : دادب لفظ له(داب) څخه چه دعادت معنا ښندی،را وتلی،دی وائی : داکلمه له‌مفرد څخه‌نه‌ده اخستله شوی بلکه له‌جمع څخه راغلی، یعنی (داب) په (ادآب) سره جمع شوی اردقلب «اوښتنی» په واسطه «آداب» ګرزېدلی‌دی لکه : بئرد «کوهی» په معنا، اورئم د(سپینی هوسی ) په معنا چه (ابآز) او «ارآم) جمع‌شوی اوبیا دقلب په واسطه «آبار» او «آرام» ګرزېدلی دی‌نلینو وائی : غالبا د (آداب) د جمعی استعمال له (داب) څخه داډول راغلی چه عربو ددې قلب او جمعې اصل هېرکړی اواتکل وهی چه ادب بی‌له قالب‌څخه جمع دی، له‌دی کبله ئی مفرد، ادب ګڼل نه (داب) ...

دکتور طه حسین مصری استاذ، دخپل اثر ( ادب جاهلی) په ۲۷ - ۲۸ مخ کښی داسی لیکی د نیلینو نظر یه د (ادب) په باره کښی لکه دلغت دنورو پوهانو نظریات په‌فرض اوتخمین باندی بناده ځکه دادب کلمه نه دعربو په لرغونی ادب کښی راغلی اونه په‌قرآن کښی لیدله کېږی، هغه‌څه، چه موږ دی مادې ته راجع پوهېږو، همه داده چه‌په حدیث شریف کښی راغلی‌دی(ادبنی ربی‌فاحسن تادیبی) اما نظر دمحدثینو اختلاف ته ددې‌حدیث د(ص) روایت له رسول کریم (ص) څخه وثوق ته نه دی رسیدلی، نوکیدای شی چه‌ووایو، داکلمه تراسلام پخوا اوداسلام په لومړی سرکی له‌ټولو افعالو او تصریفاتو سره نه ده پیژندل شوی همدا ډول دراشده خلافت په‌دوره کښی هم ددې لفظ اثبات خورا ګران دی ، سمه خبره داده چه دا کلمه دلمویانو په دوره کښی استعمال شوی ده ، هغه هم دلرغونو پوهانو دشعرا و، اخبارو، دروایت په‌باره کښی اولومړی پلا داکلمه دفعل اواسم فاعل په‌معنا استعمال لیده یعنی ادب،یامودب، چه مودب هم دشعراوخبر دراویانو په‌موردکی، هغه کسان چه داکارئی لخانته مسلك ګرزولی ؤ، اطلاق کېده ...

نوپه‌دې‌صورت‌سره چه داکلمه نه دعربو په لرغونی ادب اونه په‌قرآن اواحادیثو اونه درا شده خلافت په زمانه کښی ذکر شوی وای، بیله دی چه د نلینو او دلغت دپوهانو فرض په نظر کی ونیسو بله‌چاره نشته دونه ویلای‌شو : هرکله‌چه‌دقریشو لهجه دخپل رسمیت په زمانه کښی د عربو په ټولو لهجو کښی موثره وه پخپله هم دعربو له‌نورو لهجو څخه متاثره شویده ، نوښائی چه‌دادب لفظ داموبانو په‌دوره کښی له‌کومی اطرافی لهجی څخه دقریشو لهجی ته را اوښتی‌وی، اووروسته د قریشو دلهجی دغلبی په‌وجه هغه بله اطرافی لهجه له‌منځ نه تللی اودا اصطلاح دقریشو په لهجه کښی ژوندی پاته شوی وی .

پدی مورد کښی تراوسه د دکتورطه حسین له تحقیق‌څخه‌زیات څه لاسته نه‌دی راغلی ...

دادب معنا او استعمال لحای : دادب دلغوی او اصطلاحی معنا په‌باره کی هم پوهان په خورا ستر اختلاف سره اخته دی چه ددوی دنظریاتو څېړنه خبره خورا اوږدوی، خو داوسنی زمانی دادباؤ په‌عقیده ، ادب په لغت کښی ما ثور کلام، ښه خوی؛ اوسپېڅلی معاشرت ته‌وائی اوپه اصطلاح کښی ژبه دژبی په‌حیث دادب موضوع نه‌ده بلکه له ژبی څخه دلطیف فن په توګه، په‌ادب اودادب په‌علم سره‌تعبیرکوی عرب دروزمره ژوند په‌موردکی‌دادب له‌کلمی‌څخه اخلاق، تهذیب، نفاست ، حسن خلق، تواضع له‌خپلومعاشرینو سره مفهوم اخلی او مستظرفه فنون هم دادب جزء ګڼی خود بستانی په تصریح ادب یوازی په عربی تعبیر ، دعربو په علومو محدود ، او ارو پائی پوهان هرډول پوهنه چه دلیك په دایره کښی راځی که اروپائی وی که نه‌ادب یا(literature) بولی‌دکتور محی‌الدین‌قادری‌وائی موږ نشوکولای دډېرو شاعرانو ، اشعار دادبی علومو په ذریعه حل کړو ځکه دځینو شاعرانو د اشعارو په‌ضمن کښی داسی پوهنو ته اړتیاوینو چه‌ډېر ځلی هغه‌علوم له‌ادب سره څه‌اړیکی نه لری، که موږ غواړو دهغو شاعرانو په ویناؤ پوه شومجبور یوچه سربېره‌پرادب په‌فلسفه، دادیانوعلوم، فزیك،هیئت، نجوم، ریاضی حتی متافیزیك باندی هم احاطه ولرو ، ترڅو چه دهغو داشعارو علمی برخی‌هم حل کړو نو پ-ې‌صورت کښی ادب باید داسی تعریف شی چه عبادت دی له ماثور کلام څخه اوهغه‌شی چه‌دادب له‌ذوق اوتفسیر اوتفصیل‌سره اړه‌لری ، نوپدی تعریف سره ذکر شوی ټولی پوهنی دادب په تعریف کښی ګډېږی اوادب دغو ټولو پوهنو ته حاوی دی دالنډیز که څه‌هم خورا لږ دی مګر داخرینو نظر یاتو نتیجه هم دغه ده چه بره مو ولیکله ...

پښتون : دپښتون تېرد ارين)له کاموڅخه یو کام دی چه دافغانستان اصلی او پخوانی اوسیدونکی دی د تاریخ پوهان وائی چه ټول آرئیان پخوا یو ځای اوسیدل او یوه ژبه ئی درلوده دوی تقریبا څلورزره کاله (ق ـ م ) له خپل اصلی ټاټوبی یعنی داکسوس (امودریاب) له سرچینو څخه راولېږدېدل او په باختر (بلخ) کښی یې یوښایستو کی مدنیت جوړ کی، وروسته له هجومودې ئی نفوس ډېرشول اوله دې ځایه څخه هم لېږته اړشول، ځینی دلویدیځ جنوب پلوهرات اوپارس ته تېرشول، اوځینی د هندوکش له غاښیو څخه دجنوب لتوته را واوښتل او دابا سیند تر کڅونو پوری پرمخ ولاړل، نوځینی ئی د ابا سیند داپلو میشته شول ، اونور له ابا سیند څخه پوریوتل اودهند په ځنګلو او د ښتو کښی ودان شول، لومړی برخې ته ایرانی ، دوهمی ته مرکزی باختری اودریمی ته هندی آرین وائی دغو باختری آریائیانو ډېری قبیلی درلودې چه یومهم تېرئی (بخت ـ پکت = پښت ) وو دهندیانو مشهور کتاب کښی چه رګوید نومېږی او په (۱۹۰۰ ـ ۱۴۰۰ق،م) کښی لیکل شوی، داریائیانو دلسو قبیلو دجګړې یادونه شویده، پدوی کښی یوه قبیله د (پکت = پښت ) پنامه ذکر شویده، همداډول په ویدا کی د (پکتها ) د پکت دټولواك په څېرهم څوځایه یادونه شویده .

دیونان لرغونی مورخ (هیرو دوت) چه په (۴۸۴ق،م ) کی تېرشوی، ددې تېرنوم ئی یادکړی اووائی چه د(پکتی = پکتویس پکتس ) غښتلی اوپیاوړی ؤ لس د(پکتیکا = پکتیخا یا پاکتیا ) په مملکت کی اوسی. دانوم دهجری د شپږمی پېړۍ په ادبیاتو کښی په پښتواوبیا، پښتونخوا بدل شوی اوشکارندوی دغیاث الدین غوری موثر وائی :

پښتنخوا ښکلی زلمی چه زغلی هندته
نو اغلیه پېغلی کا ندی اتڼونه »

بطلیموس یونانی جغرافیا لیکونکی د پښتنو هیواد (پکتین) جللی دی چه د پکتیانو ټاټوبی وو، دیو رپ ډېرو پوهانو لکه (لاسین ـ ترومپ ـ کریرسن) او نورودویدادادبی افسانی پکهت اودیونانیو اصطلاح پکتویس ، له اوسنی پښتون سره تطبیق کړی اوداخبره ئی منلیده چه دغه د (پکت = پښت ، پکتویس) تېر چه دری نیم زره کاله پخوائی یادو نه شوی همدا اوسنی پښتانه دی، صرف یونانیانو دخپلی لهجی دتغیر په دود (پکتی = پکتیس = پکتو یس) لیکلیدی، پدی تو ګه دالفاظو، نومونو داوښتلو له مخی هم دفیلا لوژی پوهانو داخبره منلیده چه د(پښت = پکت = پخت = بخت = بخدی = پخدی ) خومونه ټول یوه ریښه لری داسی څرګندېږی چه دویدا د«پکهت » اصلی تلفظ (پښت) ؤ، او لومړی پلاد( پښت) کلمه دکام نوم اوبیا د (تون) ا کلمه چه د ظرف پمعنی ده او دهستو ګنی ځای ته وائی ورپوری تړلی شویده نو پښت = «پښتون» ګرزېدلیدی (دپښتو ادبیاتو دلومړی ټوك څخه لنډیځ )

لدی تاریخی اونورو پلټنو څخه داڅرګندېږی چه پښتانه داریائیانو یوه ستره ځانګه ده چه لومړی پلا په بخدی (بلخ) کښی خپاره شول اوهغه خپل نوم ئی تراوسه پوری ساتلی دی.

ګریرسن، وائی چه ایرانیانو پرپښتنو د(افغان) نوم اینبی دی اصلا دوی د (پکهت تېردی چه په رګویدا ) کښی یاد شوی او بخپله پښتانه بی له پښتون څخه خپل ځانته بل نوم نه پېژنی. نویقینا ویلای شو دانور نومونه پردوی دپردوله خوا اېښودل شو یدی په هرحال پښتانه داسلام څخه را وروسته خورا مشهور شوی او داسلام له منلو پس ئی داسلام دپاره ستر خدمتو نه کړی او په افغانستان اوهند او اصفهان کی یې ستری امیرا طوری جوړې کړیدی .

پښتو : شك نشته انسانان دافادې اواستفادی لپاره یوه مهمه وسیله یعنی ژبه لری ژبه عبارت له هغو الفاظو څخه دی چه دهغو په ذریعه هرولس یوبل ته دخپلو مطالبو تعبیر کو ی او خپل مطلب ورته څرګندوی هرڅونه چه په ژبه کښی ملتو نه اوتېرونه ډېردی، هغومره ئی ژبی هم زیا تیدی دنړۍ دژبو له ډلو څخه پښتو دآسیا داریائی ژبو په ګروپ پوری اړه لری چه (سیتم) ئی بولی اوسانسکریت، پراګریت، زند، اوستا ، پهلوی، زړه پارسو دپښتوخویندی دی چه غالبا داواړه ژبی داریائیانو له مورنی ژبی چه ځینی ئی (آریك) بولی راو تلیدی اوهغه مورنی ژبه ئی تر (۲۴۰۰ق،م) پوری غالبا ژوندی وه خواوس ئی څه پته نده څرګنده ځکه هر وخت چه اریائی ولس سره بېل شو نوژبی ئی هم سره جلاشوی، ځینی پوهان وائی چه تراوسه داخبره نده فیصله شوی چه پښتو په هندی یاایرانی ګروپ ژبو پوری اړه لری که ځانته مستقله ځانګه ده خود کتور (ترومپ Dr . Trumpp ) معتقددی چه پښتو په هندو آریائی ژبو اړه لری خوپدی فرق سره چه د هندو اریائی ژبو ځانګه نده اومستقل شکل لری، اودا ژبه دلومړنی ژبګنی تحول مثال دی چه پهندی اواېرانی ژبو کښی پېښ شوی اوددواړو ممیزات په کی پراته دی ، دانظریه دیوی ډلی پوهانو له خوامنل شوی لکه پروفیسر ، سیګل اوداکترهورنل «Hornle» اوډارمستتر... مګر بیا هم ځینی پوهان له دی نظریې څخه اوښتی او پښتو ئی د شرقی ایرانی ژبو ځانګه تخمین کړی ده ، خو له دی کبله چه له پراکرایت سره نزدی ده نودهندی ژبو په کورنی کښی هم برخه ورته ورکوی ، او دا ممیزه ئی خورا مهمه ګڼی . . .

د پښتودادبیا توبه تاریخ کښی راغلی چه سنسکریت ، اوستا زړه پارسو اوپښتو هم د آریائیانو له اصلی ژبی (اریک ) څخه راوتلی دی ، ددې خبری پوخ دلیل په پښتو کښی دپخوانرآریائی

کلماتو موجودیت دی چه پخیل ځای کښی به څېړ نه پروشی ... دپښتو دادب تاریخی دورې : په ځیره کتنه سره باید دپښتوادب

په پنځو ځانګړیو دورو سره وویشو پردی ټول :

لومړی دوره : په دی دوره کښی چه تراسلام پخوا ده ، دژب

پوهانو په عقیده، دپښتوژبی قدامت لکه وید، اوستاغوندی اثبات ته رسیدلی دی مګرهرکله چه تراوسه پوری موزون ادبیات لاس ته نه دی راغلی ، له دی کبله مجبوریو چه لږ تر لږه دپښتو ژبی ځینی مهم لغات په وید ، او ستاکښی ولټو و . . . .

دوهمه دوره : دپښتوژبی دغه دوره دسوریانو ، غوریانو ، لودیانو

په زمانه باندی محدوده شوی اوداسلام له دوهمی پیړی څخه شروع کیږی او تر (۹۰۰هکال) پوری رارسیږی . . . .

دریمه دوره : دبابر پاچاادده داولادی زمانه داعصر له (۹۰۰ه)

څخه پس شروع کیږی اوتر (۱۱۰۰ه) پوری رارسیږی . . .

څلورمه دوره : له (۱۱۰۰ه) کال را پدی خواتر (۱۲۵۰ه) پوری

د هوتکواو سدوزو زمانه

پنځمه دوره : له (۱۲۵۰ه) څخه را پدی پخوا دمحمدزو ، زمانه

ترنن ورځی پوری ، دادوره که څه هم د څلورمی دوری جزء دی مګر دژبی او ادب داوسنی نهضت دکیفیت په لحاظ ځانګری وګڼله شوه . . .

لومړی دوره تراسلام دمخه : اریائی لرغونی ژبه اوپښتو...

داخبره څرګنده ده چه آریائیانو خپلې لومړنۍ (ناټوبی)(آریاناوبجد) بلله ،اونه دی کبله چه دوی دین ، دودونه در لودل ، نو دکتور ګوسټا ولو بون وائی: ښائی چه آریائیانو دخپل یو ځای ژوند تېرولو په زمانه کښې یوه ژبه درلوده ، اوپه هغه ژبه ئی خبری سره کولی ، داژبه (اریك) نومیده چه اوس ورکه ده خولږ تر لږه به له قبل المیلاد څخه (۲۴۰۰- ۳۰۰۰ ق.م) دمخه ژوندی وه ، داژبه د آریا ئیانو مشترکه ژبه وه چه دوی ټول هغه وخت په دی ژبه سره ګډ ډبل - له دې ژبی څخه د سنسکریت ژبه جلاشوی ده.... مګرهغسی چه دپښتو دادبیاتو په تاریخ کښی راغلی په ځینو د لا ئلو سره پښتو هغی مورنۍ ژ بی ته چه له هغې څخه سنسکریت ، اوستا زپږدلی دی، خورا نزدی او پښتو ئی هم در لوده ...

داخبره په دوه دلیله ثابتیږی :لومړی د آریائیانولرغونی کلمات چه تراوسه په پښتو کی ژوندی پاته شوی دی ...

دوهم : داچه د آریا ئیانو هغه ډله چه هندته ولاړه ، ژبه ئی سنسکریت شوه، چه وید په دغه ژبه لیکل شوی دی ... اوهغه بله ډله آریائیان چه ایران ته ورغلل ژبه ئی لر غونۍ پارسو شوه... مګرهغه ټبر چه په بلخ کښې پاته شوو، اوبیاله : (۱۰۰۰ تر ۱۴۰۰ ق.م) له هندوکش څخه راواوښتل ،اوددې هیواد په شرقی غرونو اوداباسیند پرغاړو میشته شول د بخدی په نامه (بخت، پکهت ، پښت ، پښتون ) بلل کېدل چه هغه نوم او پخوانۍ ژبه ددوی تراوسه پاته اوهغوی لاساتلی ده ... دلته ځینی نور لغوی دلائل هم موجود دی لکه :

د(آریا) کلمه : پخپله د (آریا - آرین ) کله دپښتو ژبی داصالت لپاره لغوی سندی ځکه هرکله چه دارین Aryan لفظ خورا لرغونی اودشریف په معنی دی او آریائیانو پخپل مقابل کښې تور رنګوته دیسو Dasyu و یل چه دواړی کلمی په رګویدا کښې ذکرشویدی اوپه سا نسکریت کی آریا Airya اوپه زندکی ایریا Airya په هغه معنی راغلیدی .

اوجیګر Geiger المانی محقق وائی چه ارین له (آر) څخه مشتق دی چه په سنسکریت کی داصل او(بنسټ) په معنی دی او ځینی پوهان وائی چه آریا له (آر) مشتق دی چه لر غونی سنسکریت کی د کرهنی اوزراعت مفهوم لری ، نوچه پښتو ته راشو ، پدې ژبه کښې ددغودواړو معناؤ لپاره چه پوهانو د(آر) په باره کی ښودلیدی ژوندی کلمی موجودې پاته دی .

۱-دپښتومر کی په لوی قاموس اودراورتی په کتاب کی چه ذکر شوی اکثر قبا ئلی ئی داصل اواساس په معنی استعمالوی اود پښتو په ادب کښې دیوې مستعملی کلمی په حیث ذ کر شو یده دزمین داور اکبر د۸۰۰ه پحدودو کی وائی :

دغم آره ئی شوه ټینګه زماپه زړه کښی
د ر قیب سره خندا کړی هو سپږی

ملا الف هوتك چه بحرالایمان ئی په (۱۰۱۹ه) کی نظم کړی وائی: دی نه آرؤ ښاغلی ځکه شو په وهرنتلی

پیرمحمد میاجی د۱۱۲۵ه په حدو دو کی وائی :

شیخ متی چه خلیلیؤ دی له آره لوی ولیؤ

۲- که د(آر) دوهمه معنا یعنی کرهنه واخلو ، داکلمه هم کټه مټه په پښتو کی تراوسه شته په قندهار کی بزګران د لوپه مهال کی هسی وائی : (آره آره لور پر غاړه ) پدې جمله کی دبزګرانو حال راښئی چه دوی لومړی کښت کوی اوبیائی ریبی ، نوآر پدې محاوره کی خاص د کښت او کرهنی مفهوم لری ، او د (آرین) کلمه دپښتو له ګرامر سره مطابقه (ین Yan) په پښتو کی دنسبت دادا تو په پوړ راځی لکه له خاورې څخه،خاوربن د(ه) په حذف سره نو که له (آر) سره پدې قانون د نسبت (ین) ونښلو ؤ (ه) غورځی او (آرین) تري جوړ ښی او ښائی چه وروسته ماقبل اخر زور په الف بدل شوی او (آریان ) هم تري جوړ شویوی .

آریانا ویجه : دمخه موو ویل چه آریائیانو خپل پخوانی تاتوبی نه (اریاناویجه یاویجو) (واج) ویلیدی اوپه اوستا کی د ۱۶ آریائی هیوادو په ضمن کی (اریانا ویجه) هم یادوی (وندیداد - فره کرد) اوددې کلمې معنا د(شریفانومځکه) گنی نوداآریائی کلمه‌هم تراوسه په‌پښتو کښې مستعمله‌ده او دقندهار دپشت رود خلق‌ئی (اویجه دهمزه په زور او مجهوله (یا) اود (جیم) په‌زور کی وائی لکه (زلمی ، انځر د خدای په اویجه نه‌پرېښدی) چه په‌جمله کښې (اویجه) د مخکی معنا ورکوی .

(آریاورشه) لکه په‌اوستا کی چه دآریائیانو زوړ تاتوبی (اریانا ویجه) بلل‌شوی اوپه‌پښتو کښې هم‌اثبات شوه ،نو هندی آریائیانو هغه خپل لرغونی‌هیواد (آریاورته) یا(آریا ورشه) باله چه‌معنائی هغه داصیلو شریفانو هیواد، دی او بیا (برهمنا ورشه) او(بهارته ورشه)ترې‌جوړی‌شوی چه‌معنائی هغه (تاتوبی اوهیواد) دی .

نوپه‌مغربی سمت اوقندهار کښې‌تراوسه (ورشو) په آخرنی مجهول واود (غرځای) اومرتع ته‌رائی چه د سیمی او تاتوبی معنا هم‌ورکوی ، داکلمه په ادبیاتو کی هم ژوندی ده لکه حمید چه وائی :

هغه‌سرکا زمانی دسپود لوبو چه‌ئی نه‌واهه‌مزری‌پل‌په‌ورښو

بری دری لرغونی‌ر د (اریك) ژبې کلمی په پښتو کی ژوندی‌ر اومستعملی‌اواثبات‌تحلیل شوی لکه ۱- آریا - آرین پښتو(آره) ۲- ویجه - پښتو(اویجه) ۳- ورته ، ورشه د پښتو ورښو، پدې وجه دپښتو نړدی رابطه د آریا ئیا نو له مورنی‌ر ژبې (اریک) سره‌تائید کیداشی وروسته دپښتو رابطه له‌نورو اریائی ژبوسره لکه (سنګریت ، زند ، زړه‌پارسو ) ترځیړنی نیسو اودی نیتجی ته راځو چه دویدژبه (سنسګریت) داوستا ژبه (زند) دپښتوخوندی‌خپل آریائی‌مورته نژدې ده . . . . .

پښتون په‌ویدا کی : دلسو ټبرو په‌جګړه کښې‌داجګړه‌دپاروشنی Parushni (ایراوتی - راوی) پر غاړه پښه شویوه هغه لس قبیلی چه پجګړه کی ګډون درلود‌پنځه قبیلی‌ئی تراوسه زموږ په هیواد کښې شته اوداسی ښکاری‌چه پس لدې جګړې دوی‌د هندورشو کانوته‌خپل‌لیږل،نور‌بند کړی‌وی‌اوهغه پښتنې‌قبیلی‌داوی:

پکتهه Pakthas (پکتویس = پکهت = پښتون)

الینا Alinas (دنورستان خلق)

بهالانا Bhalans (دبولان ددې یاد لغمان خلق)

شیوا Chivas (دشیو کی خلق)

پورو Purus ( دګندهارا د شاو خوا خلق)

پکهت = پښتون په(۱۴۰۰ ق م) کی دنام اونښان‌خاوند ووچه په‌ریګویدا کی‌ئی نوم‌یادشوی‌اوپکهت دپښتنو دپاچا په‌ډول او پکهت دتبر نوم‌دی داتاریخی‌وثیقه دپښتنواهمیت‌ثقافه سلطنت سیاسی او اجتماعی ژوندون ترمیلاد پخوا د۱۴ پیړیو په‌حدود کی رابنئی اودر یګویداله سندرو څخه‌څرګندیږی چه پښتانه تل په جګړو کی بریالی وو او ددوی ټولواک خورا زیات قدرت درلود (رګوید یک کلچرص۳۵۶)

پښتون‌په‌اوستا کی ،(پښتون ، بخدی) : داوستا بخدی‌اصل‌پکهت یابخت یا پښتو ، وروسته بخدی ددوی په نامه دښارنوم شو چه‌ربنه ئی هغه پکهت اوپښت دی‌چه‌دپښتون‌نوم تری ز یږیدلی

پښتون اویونانی مورخین : هرودوت Herodote(۴۸۴ ۴۲۵ق،م) په خپل کتاب کی دپښتنو ذکر کړی او هیوادئی‌پکتیکا Paetyica، بولی چه‌داندوس Indus (اباسین) پر ځنډه پروت دی او خلق ئی ډېر غښتلی او مړنی دی پوستینان اغوندی غښې، لندی اوچړی لری .

بطلیموس کلودیوس Ptolomee clandius دپښتنر هیواد پکتین یادکړی اووائی چه پکتین دپارو پامیز اد جنوب ته دبکتیانو تاتوبی دی، ( دافغا نستان تاریخ ۱ جلد ص ۹۲) داخبره چه د مغلو پدوره کښې ځینو مورخینو پښتو له سامی‌ژبو څخه بللیده په څېړنه نه ارزی اوله یوې اپلتی څخه زیات تیمت نه‌لری‌غواړی ترو مپ او کریرسن‌دجغرافیی له‌مخی دیونانیانو پکتویس پښتانه منلیدی .

دالفنستون، راورتی، بیلو، ډارمسټتر، ترومپ دکتورهنری برتلز،فون،سپیګل،لوریمر، کریرسن‌اونورومستشرقینوله‌نظریاتو څخه داسی څرګندیږی چه پښتو دسانسکریت خورده اوله غربی (ایرانی) ژبو څخه نده بلکه‌په‌هندو ارین‌ډله ژبو پوری اړه لری خو خالصه هندی هم نده اوله پخوانو زمانو څخه زړه مستقله ژبه اوپه لومړی سر کښې له‌هندی اوایرانی ژبو څخه بېله شوی خوبیاهم ددواړو ژبو سره په خصوصیاتو کښې اړیکی لری، یوه مقتدره اوبرجسته ژبه ده ...

دویدی‌ژبی‌اوسنسکریت‌لغات چه‌په‌پښتو کی‌ژوندی‌اومستعمل‌دی :

ترټولو دمخه باید دویدا کلمه وکتله شی څکه دزیا ترو علماؤ په عقیده دالفظ له‌پخوانی‌ر اصلی آریائی ژبی څخه‌پاته ده اووائی چه ددې کلمی اصلی (ود) ده چه دپوهنی معنا لری (په سنسګریت کی دډېرو الفا ظو ریښه همدغه کلمه ده اوډول ډول کلمی ترې جوړی شویدی لکه ودت Vidit علم ، فهم، ودیا، علم،زده کړه‌ودیابهیاس Vidya-bhyas زده کړه ، لوستنه ودیا پرایت Vidya prayt ، دعلم تحصیل، دپوهنی زده کړه، ودیادان Vidyadan دعلم‌خپرول یااشاعت‌ودپارتهی Vidya-parthi زده کوونکی، محصل، ودیالی، Vidyalay ، ښونځی، مکتب ودیاوان Vidya-van پوهنوال،عالم،علمی(دهندقاموس‌ص۷۶۶ ) نود، ود، دکلمی دیښی په پښتو کښې خورا ډېری‌دی خو دزمانی

په تېرېدو سره لکه چه الفاظ تغییر مومی په معا نیو کی هم څه‌قدر میل حتمی دی لکه په پښتو کی (وده) دو اوپه زور، ددال په زور کی تراوسه دنشوونماالولویوالی په معناؤ مستعمله ده، لکه چه‌وائی دانهالگی دلته‌وده نکوی. اولږغه ریښی څخه واده، جوړشوی چه نشوونما او تکاثر پکښی پټ پروت دی، نووده، یعنی لوئښت، اوتزئید په‌جسم اومعناکی لازمی شوی‌دی اوبی له‌پوهی وده امکان نه‌لری .

همداډول دویدا کلمه چه‌په اصل کی (وید) ده په اسلامی دوره کی Bead ضبط شوی نوهرکله‌چه(واواوبا)دواړه شفوی توری دی ډېر ځله سره بدلېږی لکه پښتو وری یا باغوان او باغبان، نوپه پښتو کی داد(بید) دلفظ ریښه (بد) Bud گرزېد لیده چه دهوښیار اوپوه په‌معنی‌ده، اوداکلمه وروسته په‌بودائی دوره کی هم د(بدھ) په نامه کښی شته چه پېغه معنا را غلیده .

په پښتو کی یوبل مصدر هم‌شته (بودول) تري پیدا کول اخستل، ښائی دا د(بد) او (بود) دکلمی بل تحول وی .

ریـگ، او، رش : هرکله چه ریـگ وید ، دوید دکتاب مهمه اولومړی برخه‌ده، البیرونی وائی درگ ماده درج د Rij مجموعه ده چه یوډول شعر وو، اوسنی پوهان وائی چه رگ دستاینی اوثنا معناوی لری اوداکلمه‌په‌سنسکریت کی هم پدغه معنا راغلیده، خوگ، ج دواړه حلقی توری دی سره بدلېږی لکه البیرونی چه رگ معرب کړی اورج ئی بللیدی په سنسگریت کی ریج سم اوسېدل اوپه ښو اخلاقو ستایلی ته وائی ریچا، دویدی روحانیونو یوه ځانگری ډله وه، اوریشی Rishiدآریائی اقوامو روحانی مشران وه، نوپه یو نظر سره داټول کلمات لکه (رچ،رج، رگ، رش) یوله بله سره ربط لری اوله‌یوې کورنۍ څخه‌دی‌اوټول دریشی‌کلمی‌ته منسو ببېږی چه ریشی په لرغونو آریائیانو کی دمشر، بادار، لارښوونکی شاعر، روحانی مقام‌لاره، اودوید برخی هم‌دغو، ریشی گانوته منسوبی دی .

اوس نوپه پښتو کښی ډېری‌کلمی ژوندی دی چه لدی‌ریښی سره خرگند ربط لری لومړی (رشه) خلق او ارثی سجیه ، لکه چه وائی دغه دېلار اونیکه (رشه) ده یعنی خلق، اوسجیه ده، دوهمه د (ریشان) کلمه دهغه‌چا صفت کېدا یشی چه پقول اوعمل کی دباورسړی وی او (ویسا) اعتماد پر کېښی نوله ریشی څخه ریشایو صفت جوړ شویدی، دریمه‌کلمه (وراشه) ده چه دمنطقی خبری په معنا راځی«وراشه» ئی نده زده، یعنی بی منطقه سړی دی .

حمیدوائی : خنداوه به‌عاشقی‌ر راپوری خلق
چه خندل می دپنـد گـویو پـه «ورشـو»

او، رگوید، چه، رجوید، هم ضبط شوی اورج ، رچ، رش هم کېدایشی ریښه ئی دغه (رشی) ته راجع ده اوداسی ئی‌معنا کولایشو « منظوم ویدا، د ریشی ویدا، دښو خو یو نـو اوښی وراشی علم » .

سمهیتا Samhita : ددې کلمی معنا پو هانو « مجمو عـه Collection راوړی ځکـه د و یداځلو ر کـتا بو نـه دعـلـم څلور مجمو عی‌بولی دا کلمه‌چه‌کټه مټه په پښتو کی پدغه معنا ژوندی‌ر او مستعمله ده پښتو « سمته Samatah » یعنی ټو ل او مجمو ع او کافی ، په قند هار کی اصطلا ح ده « و نی ښه سمته میوه نیولیده » ډوډی‌ر ئی وخوړه خو بیاهم « سمته تری‌پاته‌شوه» دزلمی پانگه سمته څلو پښتو زروته‌ړسېږی ، په یوه‌ملی لنډی‌ر کی وائي :

دغم د برخو په وېش راغلم سمته‌سمته‌غمونه‌زما‌په‌برخه شونه

نویااوالف چه په ویدی سمهیتا ،کی دعلت توری دی هر وخت حذ فېږی اویا زیا تېږی .

همداډول دوید، شرتی، سروتی Cruti چه‌الهامی معنا لری دادبیاتو دتاریخ‌په‌لومړی‌ټوک کی‌دپښتو د«ښه‌راوتې» ښه ډول، جملې‌تري جوړی شوی ګڼلی شویدی .

اودوید«سمرتیSmriti» چه«منقولو او معنعنو روایاتوته» وائی دپښتود «شمیر» کلمه تري جوړه شوی بو لی .

سیند Sind : داکله خورازړه اوپه رگویداکی سپته سندهو Saptasandhu ،اوپه اوستاکی هپته هندو Hapta Hindu » راغلیده‌چه‌د(اوو)رودوپه معناده،نوپه‌پښتو کی هغه‌ویدی اصطلاح «سندهو» تراوسه مستعمله اوژوندی‌ر پاته‌ده (سند) یاسخفف‌ئی (سین) دواړه‌د(رود) معنابښندی‌لکه‌دکابل‌سند، دکنړسند ، اوپه مخصوص‌ډول(سند)(اباسین)اندوس ته‌وائی‌خوشحال‌خان وائی :

که‌یوځل‌رسیده‌وشی ترسینده بیادی‌نه‌ویښم په توروستر گوهنده

داپه‌ملی ادب کی ډېر مثالونه‌دی .

سوما ـ هوما Soma Homa : دیوه بوټی نوم دی چه په ویدی ژبه‌ئی (سوما) بولی اولکه چه‌په او ستاکی دویدی ژبی (س)په (ھ) ابدال کـېږی نو هو ما را غلی ا و په عر بی ئی (هوم المجوس) بولی دابوټی هغه وخت اریائیانو مقدس‌باله او اویوډول مشروب ئی‌تري جوړاوو چه‌لا له‌بخدی څخه‌ئی‌هجرت نه و و کـړی .

په‌عربی طب کښی وائی (لبزخه خوښوالی اوزمختی (حدت) لری) ، پوهان ددې بوټی دشنه کېدو ځای د افغا نستان دغرو ټولی بر خی ګڼی نو د ا سوما ـ هوما بوټی په هغوتا ریخی اصطلا حاتو اوس پښتا نه (هو مان) یا د خپلی ژبی په قا نون (اومان)بولی ـ په‌نورستان کی تراوسه(سوم) نوم‌لری، دپارسو په رواج(بندك) دی، نوددې‌بوټی تاریخی نو عینا په پښتو کښی ژوندی او مستعمل پا ته دی .

افغانستان ۵۰۰جلد

چهند Chhandas : په وید او سنسکریت کښی د شعر او اوعر و ضیا تو په معنا راغلی او خو را مهم علم و ، په پښتو کی داکلمه اوس نشته خو په زاړه ادب کښې ښکارند وی دسلطان شهاب الدین غوری (۵۶۹ -۶۰۲ﻫ) معاصر پخپله یوه قصیده کی‌داکلمه په یوه بیت کی دشاعر په معنا داسی استعمال کړ یده :

په بربن چه‌زغ دچونیو نغوزپده سی
تر وا چندی سره کا ندی ا شلکو نه

دپښتو ادبیاتو دتاریخ لیکوال وائی دپټی خزانی په خطی نسخه کی‌دې کلمی‌ته د شاعر معنا کښلې شویده او څرګندیږی چه هغه پخوانی چهند ته منسوب نوم دی او (ﻫ) چه د پښتو له صایتو حروفو او دعلت په تورو کی هم‌شامل‌دی ، لری شویده داشان داشلوك Ashlok کلمه په سنسکریت کی‌دشعر او نظم په‌معنا (Verse)ده، علامه البیرونی‌په کتاب‌الهند (ج۱،ص۱۹٤ ) کی‌وائی زیاتره هندی کتابونه اشلوك‌دی ،اودایوراز نظم دی چه(چارپد) ئی‌بولی اوهرپد ئی‌اته‌حرفه وی‌مګر په‌څلورو سرو (پدو) کی دا، اته، توری یوراز ندی، دهلورو پدو اخرحرف له یوه جنسه(ثقیل) اودهرپد پنځم حرف تل (خفیف) او شپږم‌ئی درونددی اوم‌حرف‌ئی په‌هر، دوهم ، اوهلورم ، پدکی (سپك) او په‌لومړی اوددریم پدکی به(ثقیل) وی- اشلوك د هندی کتابو (بنسټ)دی نودښکارند وی په‌شعر کښې اشلوك لکه چه دپټی خزانی دقلمی‌نسخی پخواله د(اشعارو) معنا ور ته لیکل شوی ، شعرته‌وائی اوداهم هغه‌ویدی اودسنسکریت لفظ دی چه‌په پښتو ادب کی په‌هغه معنا ذکر شویدی ...

پخپله دسنسکریت Sanskrit ، لفظ د سمه شوی ، مهذبه شوی، بشپړ شوی په‌معنا راغلی او د (ودې) په بحث کی موخه تفصیل ولیکه ،ددې‌لغوی تحلیل دادی : اصلا دانوم مرکب دی چه‌لومړی جزئی : سم‌یاسن ، دراست په معناؤ اودوهم‌ئی سه‌یا (زه) دی‌چه کټ‌مټ دپښتو (شه) معنالری په‌سنسکریت کی‌وائی: سوډول Su-daul یعنی‌شه‌ډول - شه‌څېره - ددې نامه دریم جز (کریت) دی چه‌د(کړشوی) معنالری، نو په‌لږتغیر او ګرامری ابدال سره کټ‌مټ دپښتو «سم ، شه، کړی» یعنی(شه‌سم کړی) اوعینا دژبی دتانیث له کبله باید(شه‌سمه کړی ) وویله‌شی یعنی شه سمه کړی ژبه، چه کټ‌مټ پدغه‌معنا ژب پوهانو ضبط کړیده (دهندوستان قاموس ص ٤٨٠)

سر ببره پر دی د دې کلمی ډ بر مشتقات په عین معنا ګانو سره د پښتو په ادب او ژبه کښی ژوندی او مستعمل لیدل کیږی لکه شیخ مستی (سمې ) په سندره کی داصلاح اوبهبود په‌معنا راغلی، دی وائی: (ددی‌نړی- په عشق سمې‌ردی ) یاسما، دانصاف ، عدل په‌معنا لکه شیخ‌اسعد سوری چه‌وائی : په‌سماؤ ئی ودان آهنګران‌ؤ همداډول سمون،سمول، سمونګ ، سم‌بند سره نښتل ( سما ) موافقت او داسی نوری ریښی‌ئی ...

دسیو Dasyu : آریائیانوهغه‌مهال چه‌هندته ورغلل ، دهند پخوانی تورلینګیان بیت پزی، ئی داریه‌یعنی‌شریف ، اصیل په مقابل کښی (دسیو) چه‌ددښمن ،میرځمن، ببدین معنا ور کوی ، بللی، اوهغه وګړی اوس په‌هندکی (دراویدی) بولی، ورو سته دې‌کلمی څه‌تغیر کړی او(داس) تش‌غلام ته وائی ، د اوستا په ځینو برخو کی‌دژ، یا، دش ، Dush عموما د(بد) او بابیز ، په معنادی‌لکه چه دپارسی‌په زیاترو الفاظو کی د ش را ځی لکه دشمن ،دشنام، دشوار،دژخیم،دوزخ، دزد... نو په‌پښتو کی دښن، دښنه، هغه دسنسکریت ، دش، یادس، اود اوستا (دش ) دی چه یواځی یو(ن) نسبتی ورپوری نښلول شویدی ملك یاروائی : توری تیږی کړی دښن موپریکړی امیرنصرالدین وائی: زما دښنه هسی توراکړی ، یا تورانی دښن چه وائی ( پټه خزانه ۷۱،۱۱ مخ ) .

څلور ډلی Caste : هرکله چه آریائیان په هند کی غالب اوخپاره شول نودوی په‌دری ډلو وویشل شول چه څلورمه ډله‌ئی هغه دسیو ګان ،دهندپخوانی تورپوستی خلق‌وو، دادرنګ ویش لومړی په‌آریائیانو کی‌نه‌وو مګر وروسته ددغو طبقو یادونه دلسم وید په(۹۰) برخه کی‌چه Purush ئی‌بولی په افسانوی ډول داسی‌راغلیدی : دپرډوش ،بدن‌ئی‌تقسیم کړ، بر همن ، ئی له‌خولی، راجنیا، ئی‌له‌مټو، ویش،ئی له‌ورنو، اوشدر ، ئی‌له‌پښو څخه پیدا شول ( ویدك اندیا ۲۱۷ مخ)

نو دهند آریائیان وائی : برهمن چه له‌خولی پیداشوی ، کارئی ښوونه ، اوحکمرانی ده، هغه څوك چه له مټه پیدا شوی کارئی‌جګړه اوساتنه اوقوت دی ، څوك چه له‌ورنو پیدا شوی ، کارئی د تمدن‌نظام ټینګول، ودانۍ او کرهنه ده، خوهغه څوك چه‌له‌پښو څخه پیدا شویدی کارئی یوازی چو پړ وهل او خدمت کول دی .

برهمن Brahmana : لومړی ډله‌ده اوکارئی‌لولول،لوستل اوددین دخزانو ساتل‌دی ،دپښتو د تاریخ لیکونکی ددی کلمی معنا دپښتو دبرم له کلمی سره‌نژدی بولی، چه‌برم دعزت او بخت په‌معنا مستعمل دی . دی وائی له(برمه) څخه برهمن داسی جوړ شو چه‌یودنسبت ادات(من) چه‌اوس هم په‌پښتو کی شته وروسته ورپوری وټرل‌شونو(برمهمن) وګرزید ، یعنی دجلال اولوړتیا خاوند، داستعمال په‌کثرت سره (ﻫ) تر(میم) دمخه شوه ، دوه میمه‌سره یو ځای شوه ، نودژبو په قانون برابر که‌دکلمی‌تلفظ درونددی ، یوتوری غورزی نو یومیم ولاړ بر همن ، پاته‌شو، دمن دادات امثال: خوږ ، خوږمن، درد ، دردمن .

کشتری Kushtri : دادوهمه طبقه ده چه پهویدا کی راجنیا Rajanya او وروسته کشتری او چهتری یاد شو یده لومړی کلمه دشهزاده ، عسکر، اوجگړن معنالری ، داطبقه تر برهمن وروسته دوهمه ډله او پاچاهان اومشران لهدوی څخهوو دپښتو دادبیاتو دتاریخ لیکونکی پهعقیده کشتری پهپښتو کی ډ یری ولیې لری بلکه سوچه پښتو،ده اولهدوو کلمو جوړ شوی لومړی (کښ)د(اختن) پهمعنی لکه زیارکښ تورکښ(عسکر) اونور... اودوهم ئی(نری) دی چهمفردئی (تره)راڅی دلومړی حرف په ضمه نو د(ت) دضمیښکاره کولو لپاره مفرد(توره ) اوجمع ئی (توری لیکو ، خوتلفظ ئی د(ت) پهضمه ده، او پخوانی املائی (تره، اوتری) ده... خوپه اوسنی املا سره عسکر، کښتوری ، تورکښ چهعینا دعسکریت پمعنا مستعملهاوکټمټ د( کښتوری ) مقلوبهده ،داد(تورکښ) کلمه په خیرالبیان کی راغلیده .

ریسیا Vaicya : دانوم پهویداکی ویسیااوپه سنسکریت کی ویس Vais ویسیه، ویشیا، Vaishya دی چه دهندی آریائیانو دریمه طبقه ده منو قانوندان وائی و یسیا ، باید غلې وساتی، انعام، قربانیوکړی ، وید، ولولی، تجارت ،پور ور کول ،او کر هڅه زراعت هم دده کاردی ، منو ددوی په اجتماعی چارو اعتماد، اوویسا مهم شرط ګڼی . نو هرکله چهدا کلمه په پښتو ادب کی پهعین معناسره خورا مشهورهده خو شحال خان وائی : ( په داسانشته ویسا ـ همدم ته وایه الله ) خو را نژدې بر ینبی چهدماقبلاخری یاپهحذفیدو سره، دویسا کلمه پښتو وی ځکه په معناکی توپیر نشته .

شودر Shudra : ځلورمه ډله ترټولو کښته او ناملموسه ګڼله کیږی ، داډله دهندوومی تور لینګیانوو چه دسیو(دښمن) بلل کیدهٔ ... داکلمه دپښتو د(سودر) لهکلمی سره پهلفظاومعنا کی یوشی دی، پښتانه سودر ،نالایق، کښته ، بیتهذیب ، ناپوه سړیتهوائی چهعینا دشودر ، معنا لری .

ورنه «دچاروياد طبقووپش»: د ځلورو برنیو ډلو دامتیاز ستر عامل رنګ، چه پهانګلیسی اصطلاح سره Caste او په ویدی ژبهورنه Varnaورتهویل شویدی یعنی رنګ ،جولهاوبڼه. بڼه پهپښتو کی دمخ اوځېری رنګ ته وائی لکه بڼه يې الوبی ده یعنی رنګ ئی تللی دی ، نو د (و) او (ب) ابدال عمومی دی لکهزاول، زابل،بنوروا، وښوربا ، پدې قاعدهلومړی ـ پلاورنه (برنه) ګرزیدلیده ، هرکله چه (ر) په تلفظه کی (ثقلت) لری نو (ر) وغورزیده او (بڼه) پاته شوه هر کله چه دځلورو اریائی ډلونومونه ، پښتو ، دی دغسی هم دډلود جوړېدو اساسی نوم هم پښتو دی ، ځکه هغه ویدیکلمه اوس هم په پښتو کی شته چه شکل ئی (بڼه) ده یعنی رنګ Colour. . . .

بل داچهدهغی پخوانی آریائی عنعنی ریښه په پښتو کی داسی ژوندی پاته ده ، پښتانه وائی :

دمړانی بادراوالوت د غرغښت پهژبهونښت ، نورو حانی چاری وینا ، علم اوادبدغرغښت کاردی ، داباد د (بېتنی ) پرمټو (بازو)ونښت ، توره عسکریت ، ددوی کاردی ، اودسړبن ،پر (لمن) ونښت ،چه دلوئی لمنیخاوندان ، واک ، اوسیاسیچاری زراعت ،تجارتدسړبنو کارونهدی،نولکهدډلونومونه چه پښتووو هغسیدپښتنو ډلواصلیوپشهمهغی آریائی عنعنی تهورته دی .

من Man : من پهسنسکریتکی زړه ، ارادی ، روح تهوائی (هندوستانیقاموس۷۰۳مخ) البیرونیئی هم دارادې پهمعناراوړی داکلمهپهلرغونیړ پښتو کیعینا پهدی معنا موجودهوه ، امیر کروړ دغورپاچا د (۱۳۹ه) پهشاوخوا کیداکلمهپهخپل زور ورشعر کی استعمال کړ یده وائی :

غشی دمن مې ځی برینا په میرځمنو باندی
په ژوبله یونم یرغالم په تښتیدونو باندی

(پتهخزانه۳۳مخ) لهدیځرګندښیچه(من)دارادی پهمعنادی ځکه شاعر وائی : دارادې غشی لکه برینا په میرځمنولګیږی .

ستهان Sthan: پهسنسکریتکی دظرفمعنا لری ، په پارسو کی د (ستان) پدول موجوده ده ، لکه شارستان ، غر جستان افغانستان ، مګرپه پښتوادب کیداپخپلهد (ستهان) زړه آریائی کلمه موجوده ده ، ښکار ندوی دغوریسلطانشهابالدین پهمدح کی وائی : تورستهان ئی کړ رنیاپه جهادونو ( پتهخزانه۵۳مخ) تورستهان یعنی تیارهمیواد ،ځای(هند) يې روښانه کی .

غزدک ، مزدک ، نمست ، مزدا : داکلمات ټول آریائی دی خوپهپښتو کیهم ډیری کلمی شته چه په دغه (ریښه) اړه لری لمړیسنسکریتته ګورو: نمستNamasitمحترم ، ستایلیشوی نمسیت ، Namasyit یانمسیهNamasya دعزت خاوند ، مجلل (هندوستانیقاموس ۷۴۹) ددې مواد وریښه (ن ، م ، س ، ت) دهچه (ن) ئی پهنوروژبو کی کلهکلهخذفېږی س په (ژ) بدلیږی او (ت) په (د) خوپه اصل کی ، د ، نیایش لمانځلو ، اوتکریم معانی پرنی دی ، پهاوستاکی هم دا کلمه ښه موقع لری ، اومزدا (Mazda) پهاوستاکی دلوی خدای نوم دی چه (اهورمزدا ) (اورمزد ) ئی هم باله ـ دلته ئی ، ددې کلمی دوهم جزء چهغه (م ، ز ، د ) دی ترڅېړنې لاندی نیسو چه دسنسکریت له (م ، س ، ت ) سره لهیوه جنسه دی نو په پښتو اوپارسو کی لهدغی مادی څخه لمونځ ، نماز ، لمنځل خمزدک، اومزکت جوړشویدی ، کهڅه هم نمازپهاوسنی پارسو کی د عربی صلوة په معنادی مګرپهلرغونی پارسو کی داکلمه دخضوع ، تکریم ، تجلیل په په معناؤ هموه ګردیزی عبدالحی

وائی : چوامیر رابدیدند همه نماز بردند ، و خدمت کردند (زین‌الاخبار ۷۵مخ) نودپښتو ژبی مونږ ،المونږ، نمازمزدک نمزدک (مسجد) لمانځل ، نمانځل لمنځنه ، او نور مشقات ئی ټول‌له‌هغی‌ریښی څخه دی‌چه ( ن ، م ، ځ ) هغه لرغونی حروف دی‌چه هم په‌سنسکریت ، هم‌په‌اوستا ، اوهم په‌پارسو کی شته په‌پښتو کی ددی کلماتومعانی‌چه‌دعبادت، ستاینی، عزت ، پځای ذکر شوی ، دوست محمد کاکړ ، خوشحال خان ، عبدالقادر او نور وپه شعر کی استعمال کړی‌دی .

ویاکړنه Vyakarena : په شپږویدانګو کی‌دګر امراونحوی‌په معنا راغلی ، دسنسکریت په قاموس کی ویاکرن Vyakaren دګرامر ، او ، ویاکرنی Vyakarani دګرامرپوهاندپه‌معنا ده داکلمه دوه جزء څرګندیږی لومړی (وی) دی داتوزی په پښتو کی (ویی) کلمی اولفظ اوویل ته وائی اوپه‌پخوانی ادب کی مستعمله وه ، خوشحال خان وائی : د اویی زما درا زدی دامنزل دوراودرازدی .

نو دسنسکریت‌د (ویاکرن)لومړی جزءهم له‌دغی‌ریښی څخه‌دی ( ویا ) یعنی (ویل) ګفتن ، کلام ، ویناوهم جزء ئی اوس‌هم په‌پښتو کی ژوندی‌دی کړن ، کړنه(فعل کردن عمل‌وکاری .)

منو Monu : دوید دبیان په قرار داوسنو انسانانو لومړی سړی منونومبده چه‌لومړی‌پلا (اور) ده ته وسپارل‌شو ، ویدا وائی چه د وی ، وس ، و ت Vevasvat دوه زامن‌وه‌لومړی‌یاما Yama دوهم (منو) مګر یاما دمخه لړسو ، پخپله وی وسوت ، دځلاند معنا لری کله لمراواسمان ته‌هم‌وائی ماترشون Matarieuan اګنی (اور) له خورالری ځایه یعنی له اسمانه راوړو ، یوزوی‌ئی درلودچه (منو) دی‌او دانسانانو اعلی‌مورث ګڼه شی ، دمنولغوی معنا پوهیدونکی او منونکی دی (ویدک۹۲امخ) دهندیانو په‌کتابو کی وائی چه‌په‌لرغونو زمانو کی یو طوفان راغلی وو ، او وائی منو تر طو فان وروسته پیداشو ، ددې افسانی غلط او صحت زموږ دبحث موضوع نده یوالجی دلغت له کبله وایو چه (منو) د آریائیانو په اصطلاح دلومړی انسان نوم‌و ،چه‌وروسته په‌دوی کی دمطلق انسان نوم شو، په سنسکریت کی هم مانو Manav دسړ کی‌او کوچنی په معناؤ دی (دهند قاموس ٦٦١مخ) .

نوپه‌پښتو کی‌هم کټ‌مټ دامفهوم موجوددی، پښتانه(برمانړو) دغره سړی ، اولځنګلی سړی‌ته وائی او پخپله (مانړو) دسمی ، سم‌انسان‌ته وائی یوه ملی سندر ولولی :

د بر مانړو پښان تر هیڅ ی
دروغ مانړو پشانی کښینه دیددی کړمه

یعنی دلځنګلی انسان په دود څله‌لما څخه‌نفرت کوی ، دسم انسان په‌ډول کښینه چه په‌لیدلو دی‌ځان موږ کړم اوددغه(م،ن) له‌ریښی څخه په پښتو کی (منل،مننه) شته‌چه‌د(منو) دمنونکی‌معنا لری ښائی چه دپښتو د(منل) له ریښی څخه‌منو ، اومانړو، جوړ شویوی ، اومن دارادی په‌معنا هم‌لدغی ریښی څخه ده .

من Man : پدې‌ځای کی دمخصوص وزن معیاردی چه‌دلته دتول کاڼی ترې مراد کاوه شی، من‌په رګویدا کی ذکر شوی: موږته ... یومن سره زر راوړه (رګویدا ۸۱ برخه ) دا وزنی معیار تراوسه په‌پښتو کی‌شته اوداسی شهرت‌لری چه دلیل‌اوسند ته اړه نلری .

پیسی، پاسو Pasu ، دنکن فوریس لیکی چه پیسا دیوې مسی‌سکی نوم دی چه‌زموږ نیم پنس ته نزدې‌ده . نو داویدی کلمه په‌پښتو کی اوس‌هم ژوندی‌راوخورا مستعمله ده‌لکه توری پیسی چه په‌پارسو کښی‌یې‌پول بولی .

کر، کریش Krish : کرش په ویدا ، او اوستا کی‌ذکر شوی او شدیاره کول افاده کوی ګیګروائی : (کریش) یوه کلمه‌ده چه‌ډیر ویدی اوستائی الفاظ ترې جوړ شویدی په‌اوستا کی کر شیوت دبزګر معنا لری، په‌سنسکریت کی‌هم دغه ریښه په‌زیاترو ګاماتو کی‌ښه‌څرګنده‌ښکاری ، کریشی Krishi دکرلو او زراعت معنالری ، کر شان Krishan کرونکی ته وائی ، کرشن Krashain ،شدیاره کوونکی‌ته‌وائی‌نودپښتو کر، کړنه، کرښت ، کرونکی لدې ریښی سره نزدی ربط لری ، کرسه، کرک، خط ته‌وائی چه دشدیاری له خطونو سره چه (کری‌شی) بلل کیده له‌یوی‌ریښی څخه ګڼل کیږی .

دپخوانو آریائیانو اجتماعی‌تشکیلات‌په‌پښتنو کښی : له‌ویدا اونورو پخوانو اثارو څخه څرګندیږی چه پخوانو آریائیانو ځانګړی اجتماعی تشکیلات در لودل ، اوس چه موږ ګورو ، دپښتنو ژوندهم کټ‌مټ هغه پخوانی رنګ‌لری ، او دپښتونوالی په‌لارو کی‌هم‌دغه پخوانی رسوم اوولسی‌ځلی، کورنی،عشیره، کلی، پښه، هیواد، تر اوسه‌خاص‌مراتب او عنعنات موجود دی .

هرکله چه‌دغه دودونه دهند آریائیانو له پښتو نخوا څخه وړې‌ؤ، نوښائی چه زاړه نومونه ئی‌هم پښتووې ، لاندی ځینی مراسم‌جلا جلا لیکل کیږی اوپښتو والی‌ئی هم ښوول کیږی:

پتی Pati : په‌ویدی‌ژبه کی داکلمه دبادار ، رئیس ،مشر، مالك معناوی‌لری مثلا ویس‌پتی Vis Pati دکلی دمشرنوم‌ؤ، غرض‌داچه د(پت) کلمه خورا پخوانی‌او تر بخدی پخوا ددوی په‌اصلی ټك ( آریانا ویجه) کی‌هم‌وه، ګوتراپتی ،دغوجل مشر، وراجه پتی ، دورشو ، او چراګاه مشر، ګرمه‌پتی Gramapati دکام‌مشر، داټول اصطلاحات‌دویدی آریائیانو ،دی (دافغانستان تاریخ ۱ ج )

په‌سنسکریت کی هم (پت-پتی) راغلی‌اوډیر کلمات د(پ-ت)

له ریښی څخه راوتلیدی ، لکه: پیت Pitمینه ، عاطفه ،پیتاPita پلار، پیتم، ډیر مینه‌ور، ګران ،خوږ،پت Pet ښه،عزت ، اخلاق، په پښتو کی دامعانی‌چه(پ،ت) مشتقات دی‌لکه (پت، پتی) دواړی ژوندی‌او‌مستعملی‌دی‌او پت دعزت،غیرت، ناموس‌او ننګ معناوی لری، حمید وائی :

پروت په‌وینو کی لت‌پت ښه‌یم په پت کی
نه دسرو زرو په تخت باندی بی پته ،

عبد القادر خان وائی :

په یاری‌به ها له صادق باله شی
چه ترمرګه د یاری‌پت وپالی....

کولا Kula : د آریائیانو د ژوندانه اساس په کورنی‌ اینودشوی ؤ ، دوی کورنی‌ دخیراوبرکت ځای‌بلله نوپه‌ویدی ژبه کورنی‌ ته کولاKulaوائی چه دهغه‌عصر په‌اجتماعی‌تشکیلاتو کی‌خورا اهمیت‌لری داکلمه زموږ له‌هیواده هندته ور غلیده او یه‌پښتو کی‌اوس‌هم ژوندی‌ اومستعمله‌ده لکه، پښتانه کورنی‌ ته(کهول) وائی دقندهار د مشهورو مشرانو کهولونه تراوسه په‌کام کی‌شهرت‌لری‌لکه(دپاینده کهول)(دسدوکهول) یعنی‌دسردار پاینده‌خان اوسدوخان کورنی‌ داځکه‌کهول دبارک‌کهول ، په محاوره کی‌کاله‌ته‌لحم دلته (ه) حذفیږی شیخ امنی‌لودی‌د۴۰۰ ه په‌حدودو کی داسی ویلی :

نصره نه موئی له کهاله  لودی نه یی په کاوه

دده‌ؒ په‌ځواب کی نصروائی :

دلودی زوی سنتی یم  دحمید له لوړ کاله یم

داکلمه دامیرکروړ ۱۳۶ ه په‌یوه‌قصیده کی(کول) ذکر شوی .

ګرامه Grama : دویدی دوری تشکیلاتی کلمه غالبادکلی معنالری خوله څو ټبرو څخه به‌یوه ګرامه جوړیده او مشرئی ګرامنی Gramani بلل کیده (کیمبرج‌هستری ص۹۱ ج۱)

داکلمه په‌سنسکریت کی‌خورامشهوره وه اوډیر الفاظ تری پیداشو لکه ګرامواسی GramVasi یعنی د ګرام او سیمو نکی ګرام‌ادهی،پتی Gramadhipati یعنی‌دکلی‌داعتبار سړی «مشر» او نور داسی ...

خو دغه ټول اشکال پښتو ته نزدی دی لکه ګرا مواسی (ګرام اوسیء) او ګرام ادهی پتی (ګرام‌اډی پتی) او ګرامین لکه خورین اوس هم‌په پښتو کی هغه معنا لری ، د ګرام کلمه تراوسه کټ‌مټ په‌مشرقی ،نورستان او کوهستان کی په دغه‌ډول دکلی په‌معنا په‌پښتو کښی مستعمله ده‌لکه وډی ګرام، لوی ګرام شګرام،بڼګرام، کولی ګرام ، بګرام،اشتر ګرام او نور... اوس هم یو بګرام په‌شمالی او بل‌په پښور کښی هم دبګرام پنامه یا دیښی شیدا وائی :

تر هغه پوری بګرامه  په جهان مشی بد نامه

بګرامی دکابل او بتخاك په‌منځ کی‌یو مهم موقف لری چه دغه ریښه ئی په نامه کی‌شته ، نو داکلمه زموږ له هیواده تللی اوبه ویدی ژبه کی‌بی ځای نیو لیدی. یوه لنډی‌ ده:

د بهلتا نه سند ری اروم  جانان‌له ګرامه سحر کډی باروینه

ویسه ، ویس Visa Vic : داکلمه بیاهغه ویسایاوښ‌ده چه دهلو ډوډلو په بحث ذکرشوه ،بلکه داځانته ځانګړی کلمه‌ده تر ګرام لوړه او په اجتماعی تشکیل کی ( ویسه) و ه چه دهو ګرامو وګړی به‌یوه (ویسه) کیدل او مشر ، و یس پتی Vispati یاراجن Rajan باله(کیمبرج هستری۹۱ - ۹۴ ج۱)

ګایګر المانی لیکی چه‌ویس په اوستائی دوره کی هم کلی ته‌ویل کیده اوهم یوې قبیلې‌ته‌چه کورنی‌ ئی درلودې داویستا Vis دسنسکریت Vic سره یودی چه‌په رګویدا کی د کور ، کورنی‌، تبر معنا لری .

داسی ځرګندیږی چه‌هغه ویس د انګلیسی هاوس House دپښتو (اوسېدل) (اوسیده) د سکونت ځای دی.

پورPur : د کتور کیته Keith وائی پخوا نو هند یانو داسی‌بنکاری چه‌لویی دغو یو ګلی‌ئی درلودلی اودوی‌په داسی مستحکمو ځایو کی ژوند کاوو چه هغه‌ئی (پور Pur) باله چه وروسته داکلمه دښار په‌معنا هم‌مستعمله شوه ، په‌سنسکریت کی هم‌پور دښار ، اوکلی ، کامپ Camp دپاچا دناستی د ځای په معنا و چه په او سنی‌ اصطلاح ئی موږ ار ګ بولو او هغوی پور باله .

داکلمه په مشرقی کی اوس هم‌پور بلله کیږی لکه سلطان پور، فتح‌پور،دکابل شیرپور ، دهند باولپور، بیجا پور او نور.

سمیتی Samiti : دسمهیتا په بحث کی وویل شو چه معنائی مجموعه‌ده اودپښتو (سمت) هم نزدی دغه‌معنالری، خولکه چه اوسنی‌پښتانه پخپلو قبیلو کی جرګی لری اوداجرګې په‌اجتماعی چاروکی بشپړواك لری دځانګړی اصول خاونده ده، دغسی پخوانو آریائیانوهم ملی جرګی‌درلودې اوبوه مهمه جرګه‌ئی سمیتی Samiti بلله چه‌ریګویدا کی ددې جرګی‌ذکر شویدی (ریګوید۳ج۲۵۳مخ) پوهانودهغوی یوه‌بله جرګه سبهاSabha بللی خو سمیتی عمومی لوبه جرګه وه چه پاچایې هم تاکه او(سبها) دکلی‌وړه جرګه‌وه ،خوددې مفهوم لیاره(س،م،ت) عنصری حروف‌دی‌چه په هندی ژبو کی همدغه ریښی په‌ډیرو کلماتو کی‌شته لکه سیمتSimat دتولیدلوچاره ،سمیتSemet یوله بله سره ټولول، ورسره، سمیتناSamitna یوله‌بله سره‌ټولول

افغانستان ۵۰۰جلد

غوندول (هندوستانی قاموس ٤٧٨ مخ) نو دپښتو (سمت هـم) کټ‌مټ دغه‌شکل اومعنالری چه غالبا دهماغه سمیتی (جرگی) مفهوم ښندی .

ناج : رقص چه‌دانسان له فطری خویو څخه دی خو دپښتو (سیند) اونورو پخوانو آثارو په حواله هر کـله چه اتن دپخوانو پښتنو په‌منځ کی یوملی سپورت‌ؤ نواتن‌ناج نشو بللی ځکه ناج رقص، گډېدونه وائی ددې مفهوم لپاره په‌لږتغیر سره پښتا نه (نڅا)لری چه‌یوالخی (ج)ئی په(څ) بدل شویدی لـد غه مصدره څخه افعال هم‌جوړېږی لـکه‌ناڅی ، وبه‌ناڅی وئی‌نڅل یوپښتون شاعروائی: لـکه ناڅی چه‌بسمل له تیره تیغه

چه‌په‌تیـغ‌دی شوم کړم نونڅاراغله

سامانه Samana:داکلمه په رگویدا کـی دیوی مېلې نوم ذکرشویدی چه‌په هغی کـی به‌ټولو طبقاتو دخپلو لرېو اوجنگی سپورتو مظاهری‌اوهنر نمائی ښودلـه ، (دافغانستان‌تاریخ‌جلد اول ۱۳۲مخ) داډول میلی تراوسه په‌قندهار اوقلات، شلگر کی شته‌چه‌دهرفصل لپاره ځانیونه‌لری‌خونوم‌ئی څه‌قدرمفهوم له کبله تحول‌مندلیدی ، مثلا په مغربی افغانستان کی (سامانه) تظاهر نمایش په‌فخرسره څرگندونی‌ته وائی لـکه زلمی سامانه کوی یعنی تظاهر کوی ، په‌سامانه تلل‌ځان‌ښکارول خود نمائی یوملی شاعروائی: (راغی ابوجیل کافر،نبی‌ته‌په‌سامان) په ژوره کـتنه هغه‌آریائی میلی‌هم دتظاهر په غرض وې لـکه پېغلو به‌ځان جوړاؤو، اوهېرونه به‌ئی تاکـل ، زلمو به‌هم ځانونه سینگارول اوداسی نورو‌ډلو ....

ډیوا ډیواس: په‌سنسکریت کی داکلمه دلمر اورنیا معنالری اودهندوستانی قاموس (٤٠٦ مخ) په تصریح ویـدی ماده ئی ډیا Diya دځراغ په معناوه ، اولـکه چه ( په تفسیرالجواهـر اوویدك اندیا ۸۵ مخ کی ) چه‌راغـلی، یونانی: Zeus زیوس لاتینی جوفیس، چوتیتر ،دزړې‌المانی (ذیو) داسلاوی«دیواس» ایتالوی (دیو) دپرتگالی اوهسپانوی ډیوس هم لدغی کورنۍ څخه‌دی . خوکه د«ډیوس» کـلمه تحلیل کړو دغه دپښتو کـلمه (ډیوه)ده چه دځراغ اورنیا په‌لرغونۍ معنامستعمله‌ده اودډیوې پښودلو ځای ډیوټ بولی‌یوه ملی لنډۍ :

ته به د کوم مجلس ډیوه ئی

زه دهجران په تاریکو کی‌ناسته یمه

هر کـله چه آریائیانو (ډیوس) داسمان پ معنا هم با له ، نود پښتو په‌یوه لنډی کی‌عیناً په‌هغه معناراغلیدی .

دتوری‌څپی ډېویز اسمانه ☆ ستر گی‌دی‌ؤځه که به‌لمرراخیجوینه

پدې لنډۍ کی‌محبوبه دوصل‌شپه‌اوزده غواړی نو آسمان ته‌وائی چه‌ای دځراغ‌اورنیاخاوند آسمانه که به‌لمر زرراخیږوی نوستردوځه گی گویادغه (ډېویز)لفظ‌چه‌په بره‌پښتو لنډۍ کی‌ذکر شویدی دهغو ټولو آریائی نومو چه‌ذکرشول ، کټ مټ مآخذ گڼل کېږی .

پریتهی‌وی Prithivi : د پښتو تاریخ‌دلومړی ټوك‌لیکوال ، (پریتهی‌وی)چه‌په رگویدا، کی‌دمځکی په‌معناده دپښتو،دپروتې (هواری ، غوړېدلی) له‌معناڅخه ماخوذ ځکه دراکوزن دلیکنی په‌حواله په‌ویدی ادب کی‌د(پروت) کـلمی لغوی معنا خپرېدنه اوهغسی هم‌ماروتMarut دباد اوسیلۍ‌قوه، او(اندرا)دجگړې قوه . دپښتنو ، دووطائفوته‌ور کړشویدی چه(مروت) او (اندړ) اوسنی موجود پښتانه ، دوه تېره‌دی .

پښتو او اوستا : دپښتو دادبی تاریخ دقدامت له‌پاره هغسی چه‌پښتومو له‌ویدا سنکریت سره مقایسه کړه له اوستا سره هم غواړوچه‌دااوزه په‌اوزه ودروو ، ځکه‌لکه چه پخوا مووویل دا دری ژبی ( سنسکریت ، اوستا، پښتو ) سره خو ئدنی اوپه یوه هیواد کی‌خوسنسکریت‌ځدهند په‌ارته ساحه کی خپره‌شوه ، اوستا په باختر کی ځوانی ته‌ورسیدله ، پښتو له‌پښتون او پکهت سره یوځای‌پخپلو غرو لمنو کی تراوسه ژوندی پاته‌ده .

اوستا یازند Avesta - Zend : اوستا د و یدی ژبی سره غېر گولی وزېږېده‌چه‌باختری‌ژبه‌ئی هم‌بولی،اواوستادژبی‌په‌حیث لدی کـبله یاده شویده چه‌د اوستا د کـتاب پخوانی زوړ ټوك «گاڼه» بدغه ژبه لیکل شویدی، زند ، د اوستا کـتاب‌پهلوی شرح وه، چه‌ورؤسته دادواړه سره گډاو (زند اوستا) دمتن پر اصلی ژبه اطلاق شوه ، که‌نه‌وی‌پخپله زند او ستا تفسیری ژبه یعنی پهلوی‌ده .

اوس نوداوستا یا زند څېړ نه زموږ مطلب نه‌ده ځکه زړه اوستا خونشته اودساسانیانو ددوري‌له‌بدلی اوستا څخه هم ددار مستتر فرانسوی‌پوهاندپه قول له(۲۱)نسکو څخه فقط دوه‌نسکه یعنی و ندیداد (Vendidad)اوستوت یشت ( Stot yast) بشپړ پاته‌دی اوبس . لاندی‌په‌پښتو کی د اوستا ژوندی کـلمات‌سره پرتله کول غواړو :

داوستا کـلمه : دتحلیل وړده ، ددې نوم رسم‌الخط‌مختلف رانقل شوی اوستا ، ایستا ، و ستـا ، افستا ، ایسـتا اوپهلوی (اوستاك) په سریانی ژبه (ایستاگـا ) اوپه‌عربی کی (ایستاق) ضبط شویدی‌جیکسن Jackson وائی د اوستااصطلاح له‌اوستاك Avistak څخه راوتلی، اوپه‌ساسانی دوره کی‌مستعمله وه اصلی معنائی نه‌ده څرگـنده‌بنائی لـکه‌دسنکریت ویدا غوندی دپوهنی اوعلم یااصلی متن یاقانون معنا ولری (داوستا د گرامر مقدمه ۱۲مخ) آپرت Oppert (دایشاتك سو سیایتی په‌جورنال کی) لیکی‌چه اوستا له‌ابستاپارسی کـلمی څخه جوړه‌شوی چه‌معنائی:

قانون دی ، خو په پارسی فرهنگو کی دستاینی ، اونیایش معنا لری ، اوځنی نور پوهان وائی چه اوستا د (نامعلوم) معنا لری ، اسلامی مورخینو مسعودی اوابن اثیر ددی تائید کړی او وائی : زردشت «استا ـ اباستا» یو کتاب راوړ اوهری خو اته ئی واستاوه خو، څوك ئی په معنی ونه پوهیدل ، (مروج الذهب ج۱ ۱۴۲مخ) (الکامل) اوس نود آخرنی مفهوم دتحلیل په صورت دا نوم مرکب دی له (ا ـ ستا) څخه (۱) یعنی مفتوح همزه په آریائی ژبو کی دنفی (نه) معنالری ، په سنسکریت کی عام دی ، همزه په (ی) اوړی او په مغربی پښتو لهجه کی دنفی لپاره ( یه ـ یا ) راوړله کېږی لکه زلمی راغلی ؤ ؟ په منفی صورت کی ویل کېږی = یه ! خلیل خان نیازی دادنفی ادات داسی استعمال کړیدی .

خړی اوریای ژاړی له پاسه ـ کو له زغ کا ببلتون له لاسه

یه،هغه لوفی گوهر په خول ستا ـ دامرصباکاستا ، زموږ مواسه

(پته خزانه ۳۰مخ )لومړی جزئی (وستا) له پښتو (ویستل) څخه جوړ شویدی چه د (استخراج) معنالری ، ددی مصدر اسم مفعول (ویستلی ـ ویستنی) دی، اوپخپله (ویستا) کلمه هم به زندکی اسم مفعول دی نو اوستا په پښتو کی: نامفهوم ، اونا استخراج شوی، معنا ورکوی (دپښتو ادبیاتو تاریخ دفقه اللغی په حواله )

د پارسی فرهنگو په تعبیر چه او ستا دستاینی په معنا بولی داسی تحلیل کېدایشی (ارستا) دوی کلمی دی (او ـ ستا ) لومړی جزء چه همزه حلقی حرف دی اکثر په (ه) بدلیږی لکه (الك) هلك ، نود اوستا (هو) په (او) بدل شوخو اود سنسکریت دشو Su یعنی (ښه) په معناده لکه د داریوش په پېرلیك (اواسپ) یعنی ښه آس،او (اومرتیا)ښه سړی راغلی دی ؛ نو پخپله هوهم په پښتو کی دایجاب کلمه اود ( ښه ) معنالری .

دوهم جزءئی ( ستا ) دی ، رینه ئی ( س ، ت ) د ی اود پښتو ( ستائل ، ستاینه ، ستانه دامیر کروړ ( ستاپوال). ستایش کوونکی ترې پیداشویدی نوویلای شو چه د ستا کلمه له دغه ستائلو څخه ده ، اوپدې پوړ ( اوستا ) پخپله د او ستا ژبی په اصطلاح (هوستا) اوپه پښتو، اوستا (ښه ستاینه ) معنالری .

زرتشترا: Zaratahstara پخوانی اواوسنی پوهان ددې نوم په لفظ اومعنا کی مختلف تعبیرونه کوی خوپورداسود په تمنائی پوړ تولی نظریی ردی کړیدی وائی :ښائی چه یوه له دغو نظریاتو څخه صحیح نه وی نوترټولو موږته دلعوی تحلیل له کبله دپروفیسور هاك Haug توجیه معقوله بریښی، هاګ وائی چه لومړی جزء زرت (زړه) اودوهم جزء له (یوتارا Uttara څخه مشتق دی یعنی (اعلی) نوچه دټول اسم معنا وکړو (زراتشترا ) د(اعلی زړه خاوند) مفهوم لری .

په پښتو کی تجزیه: لومړی جزء دهاګ دعقیدی پراساس یتیناداوستا زرته Zartha اودپښتو (زړه) دی،څکه داوستا (ر)(ت) په ملګری یوراز درونده اوازور کاووچه چه دپښتو (ړ) ئی اداکړی ده (دزړه له مادې څخه په اوستا کی ځینی نور نومونه هم جوړشویدی لکه (زریر) پهلوان د(ویشتاسب) وروره چه دمستروست پقول ده ته (زری واری) لقب ورکړ شویدی (ابان یشت ۱۱۲-۱۱۳فقره) ددی نا مه لومړی جزء زری(زړه) اودوهم ئی (واری) دپښتو اوسنې د فاعلیت ادات (ور)دی نو (زری واری) (زړه ور) پښتو کلمه ده چه د غه زری په(زره تشترا) کی هم شته ، چه زړه تری مراددی اوس چه په اوستا کی دزرتشترادنامه لومړی ـ توته (زره،زړه) دی نو دو هم جزء ئی تشتر په حقیقت کی (ت،ش،ت،ر) دکلمی اساسی توری دی چه د(ش) ابدال په(ښ)اوداخر توری (ر)ابدال په (ن) کېدا ښی څکه دواړه یومخرج لری اوله تالوڅخه اداکېږی نو په پښتو کښی تشتر (تښتن) دی چه دخاوند مالك معنا لری ، همداډول د«څښتن» په شکل هم په ادب اومحاوره کی مستعمله ده ، نو ټول نوم په پښتو کی (دزړه تښتن) دپارسو د(صاحب دل) په معنا ده چه زردشت غوندی سړی ته ئی نسبت کول ترنورو نومو جوته بریښی

سپنتمان: Spentoman: داکلمه دزردشت له نامه سره ډېر

---

داسی وائی چه دده دکورنی نوم دی اونهم پلار ئی دنوم دپاره دده نامه لومړی ـ برخه سپیت(سپید) اومعنائی سپین نژاد، (په ګاتها ۹۲مخ کی)هم دانوم راغلیدی (سپین نژاد ) دوه اړخه لری یوداچه دی سپین پوستی دی بل داچه ښائی دانوم معنوی جنبه هم ولری یعنی ده اصل اوخپه سپینه ده، یعنی له ښی کورنی څخه ؤ لکه چه څنو پوهانو سپنتمان په(پاك روان ) هم ترجمه کړیدی (دافغانستان تاریخ لومړی ج ۱۹۰مخ )

خو په هره توګه چه وی دا دکورنی نوم د ترکیب اومعنا په لحاظ (پښتو) اودپښتو په کرامری قانون لومړی جزء (سپین) صفت دی چه ترخپل موصوف دمخه راغلی ، دوهم جزءئی (تمان) موصوف دی چه اوس هم ددې کلمی شکل (تومنه ) ده یعنی اصل اوخمیره په مغربی لهجه کی دشیدو تو منه (مایه) مستی دی چه شیدی واخلی مستی ئی کړی یا بدخلق سړی ته وائی تومنه ئی بده ده یعنی خمیره ئی خراپه ده نوپه پښتو کسی به هغه تاریخی سپنیتمان (سپین تومنی) یعنی (سفیدنژاد)شی چه یوازی یودسپین آخرنی (نون) دتخفیف دپاره حذف شویدی اودتومنی (واو) هم څکه چه دعلت حرف دی، په الف اوښتی پس له (م) څخه راغلیدی داسی تغییرات په دری زره کاله کی دژبو په تحول کی طبیعی اوعمومی پېښېدونکی دی ، د سپینتمان لو مړی جزء (سپین) په اکثرو آریائی نومو کی رینه لری څکه داوستا په وندیداد کی داسی نومونه ډېر راغلی اودلومړی جزء معنائی هم دغه (سفید) ده چه دپښتو د(سپین) معنا لری .

هورامزدا :Ahura mozda : په‌اوستا کی (اهوره مزده) دلوی‌خدای‌نوم‌دی چه‌داکلمه (اورمزد) هم‌نقل‌شوی او مخفف‌ئی (اورمز) هم‌دی چه‌په‌لوی سر کی دعالم‌دپاچا اودغیب او شهود دمالـك نوم‌ؤ ، خووروسته ئی ډېـری نوری مجازی معناوی هم‌پیدا کړې، خوموږ‌پخوا دسنسکریت په‌څېړنه کښی د (مزدا) دکـلمی‌نظائراواامثال اوریښی په‌پښتو کی وښودی نواوس کـه موږددی کـلمی اوستائی ترکیب‌لـکه (دعالم‌په عمو می تاریخ اج۳۲۶مخ) کی‌چه‌راغلیدی (مزدااهورا) معناکړو (مجلله رښا) یا(دعبادت وړښا) چه دخدای پاك لاشریك ذات دی تړې افاده کولایشو، اوددی اوستائی کـلمی‌ترکیب‌هم له‌پښتوسره سم‌دی څکه (مزدا) چه‌صفت دی تر(اهورا) موصوف دمخه راغلی، چه لدغه‌څخه ئی پښتوته نزدیوالی څرګـندېږی .

واره Vara: داکـلمه‌خورا مهمه او تاریخی اهمیت لـری داوستاپه‌وندیداد کی دانوم راغلیدی اوداسی‌ښکاری چه‌په‌بخدی کی‌دالومړی ښاراوودانی ده چه(یماپاچاYiama) داهوره مزده په‌امر ودانه‌کړه ،اوستا ددې ودانۍ په‌باره کښی ډېر تفصیل لیکلی اودې ښاریا ودانۍ‌ته ، یما دانسان، حیوان ، مر غانو ، نباتاتوسالم‌لوی‌او بهترین‌تخمونه‌رانقل‌کړل واره‌ودانه‌اوتخمونه ولګېدل اوډېرشول‌خلص‌داچه‌داوستا(واره) عجیب تاریخ‌لری او هم‌دی‌کلمی دزمانوله تېرېدلو سره داسی‌رنګونه پیدا کړی دی چه اصل ئی نه پېژندل کېږی نو هرکله چه په‌پښتو کی ریښه موجوده ده نودلته لږترلږ ددې‌کلمی تاریخی او ادبی تحولات لیدل کېدایشی ،په‌سنسکریت کی لدغی کلمی‌څخه ډېر کلمات جوړ شویدی لکه‌وار Var ،محوطه ،څای، واړا Vara ، دیوه ښارځلورمه‌برخه ،یوداسی‌څای‌چه‌هرې‌طبقی خلق‌پکښی اوسی ، واړی‌یوه‌محوطه، غولی،دربار، باغ(هندی‌قاموس ۷۶۱ مخ ) .

اسلامی مورخینو لکه ابن فقیه ، یاقوت ، اوعلامهٔ قزو ینی د(نوبهار) ودانی په بودتون سره ذکر کړیدی نو اوس اصل او ستـائی کلمه (واره) وه ، په‌سنسکریت کی (واړه) شوه چه دزردشتیانو معبد او مرکز ؤ، او معنائی ښار ، محوطه او کلا غوندی وه ، خو چه دبودایانو بودتون تړې جوړ شو (وهاره) وګرزیده اوپه‌اسلامی دوره کی دلفظ اومعنا له‌کبله څه واو ښته یعنی(و) په‌هم‌مخرج توری (ب) ابدال او(بهار)شو ، بیانو، یو د(نو) لفظ‌هم‌پرزیات او(نوبهار) و ګرزېد چه تردریمی هجری پیړۍ‌پوری د بودائیانو دمعبد په حیثموجود ؤ ، په پښتو ژبه کی هغه لرغونۍ کلمه (واره) په‌هغه زاړه مفهوم‌شته ، یوالخی (و) په‌هم‌مخرج توری(ب) اوښتیدی او (باره)شویده چه (باره) هم و یله کېږی .

(باره )په‌اوسنۍ پښتو کی دډېرین دیوال په معنا داو بوبند ته‌وائی چه کلا اوحصار ته‌ورته‌وی‌اوپر کښت ، ودانۍ، اوغوجل راځرخېدلیوی،نوپه‌اوستا کی‌چه کومه (واره) یما د غوجل لپاره جوړه کړیده شکل اولغت‌ئی په‌پښتو کی‌تراوسه‌شته‌رحمان‌وائی:

باړه‌وتړه نوهله زراعت کړه تقوادار شه‌هله‌تمه دجنت کړه

خو شحال خان وائی :

که‌زړه‌دی وارکاڑبه قراره کړه ماتدی دپند د باړی بند و نه

له‌پورته څېړنی څخه دانتیجه لاسته راغله چه :

داوستاواره ، وار Vara دیماودان ښار په‌بخدی کښی

دسنسکریت وار Var ،محوطه ، څای، ددیوال په منځ څای

دسنسکریت وارا Vara دیوه‌ښار څلورمه برخه

دسنسکریت واړی Vari ،غولی ، دربار، باغ، محو طه

بودائی وهار Vahar معبد،بود تون .

زړه پارسو بهار Bahar بتکده دبلخ د نوبهار معبد .

پښتو باره Barah ، باړه Barah ،بند، دیوال،حصار، کلا .

پدې‌پول داوستا دخورا تاریخی کلمی ماده ترتولو اریائی ژبو په‌پښتو کی بشپړ‌پاته اوژوندی ده چه دپښتورابطه له‌اوستا او بخد سره‌په مدلل پول راته څرګندېږی .

بامی Bami : د (پکهت، = پښت = پښتون) او (بخد = بخدی = بلهیکا) دکلمو تطبیق موږپخوا ولیکی ، خو له پخوا زمانی دبخدی ښار یوصفت هم لری چه‌دغه‌صفت په او ستا کی یوځای سریرا Sriira یعنی(ښکلی) ذکر کېږی او بیا وروسته دغه‌صفت بامیك یابامی راځی چه‌دځلاندمعناښیندی ، په پارسو کی درخشان، ګزین‌دی، اومسعودی مورخ‌په‌عربی‌ترجمه«بلخ‌الحسنی» بللی دی .

جیکسن‌وائی‌چه‌داوستایوه پهلوی نسخه په سمرقند کښی پیدا شوی... پدغه نسخه کی راغلیدی چه دو یشتاسپ زوی په بخل با میك Bakhl Bamik ، کی د نوازك Navazak ښا ر جوړ کړ (دجیکسن زوړ داستری ښو ونی ۲۷۲مخ) دار مستتر وائی چه بامیك درخشان معنالری اوپه اوستائی ژبه او زندکی ئی ریښه بامیه Bamya ده چه څلاندته وائی (د زند فرانسوی ترجمه ۱،ج ۸مخ ۱۴ نوټه‌له‌لدی‌تاریخی څېړنی څخه معلومېږی چه‌بامیك زړه او ستائی کلمه ده‌چه په پهلوی کی هم پاته وه‌خو وروسته په‌پارسو کی (بامی)شوه چه‌دپارسوپه پخوانی ادب کی ډېره ذکر شویده .

علامه البیر ونی هم دبلخ ذکر کړی او وائی (بلخ واسمه فی‌القدیم (بامی)( دمسعودی قانون ۴۳ مخ )

انندراج لومړی ج، ۳۷۸ مخ‌لیکی : دبلخ‌نامی‌کلمه‌دبلخ‌بامیان په‌نامه هم ذکر شویده بامی او بامیان هم یوتاریخی ښاردی ، ښائی‌چه‌بلخ بامی او بامیانو ترمنځ تسمیوی اشتراك هم وی .

ګنج‌دانش(۱۱۴مخ)وائی‌چه‌بلخ‌باسی‌دبلخ‌بامیان‌په‌نامه‌هم‌ذکر

شویدی بامی اوبامیان دواړه مشهوردی .اوس چه دبلخ بامی دنامه تاریخی شهرت څه قدر بنکاره شونو د بامی کلمی شرح د پښتو ژبی له خواهم ولیکو : دبامی کلمه اصلا پښتو ده اودبامی نوم هم دپښتو په اسماء الرجالو کی دیوه کام په حیث لرو ، څکه بامیزی دابدالیانو له څیر کو څخه دپوپلزو په ښاخ کی یوه پښه ده (حیات افغانی ۱۱۸مخ) اړدي قبیلی یوه بر خه تراوسه پقندهار کی شته اودقندهار په اوسنی ښار کی یوه مخصوصه محله دبامی زوکوهه بلله کیږی پدی ډول بامی علم او دیوه پښتا نه نوم دی اوموږته دابنکاره کوی چه داکلمه داسم په حیث زموږ په اسلافو کی مستعمله وه ، اوداهم ثابت خبره ده چه بامی دیوه طبیعی غرنی گل نوم هم دی چه اوزدساق لری په غروکی زرغونه ښکلی سوریباله ئی گل لری څینی کاپر گل هم بولی شیخ اسعد بن محمدسوری (٤٢٥ه) متوفی دپښتو په یوه پخوانی قصیده وائی :

نه غاټول بیا زرغو نښکلی په لا ښونه

نه بامی بیا مسیده کا په کهسار

(پته خزانه ٤٣مخ) هرکله چه د گلانو استعمال دبلخ په نوبهار کی ډول مورخین ذکر کوی اوتراوسه هم دگل سرخ میله په پسرلی څلو پښتوورځو پوری په مزارشریف کی روانه وی، نوښائی چه بلخ دسرو گلانو په سبب بلخ بامی بلل شویوی ، او دشپو ورځو په تیریدوسره لکه چه په لغاتو کی تحول پیښیږی دونکی دی دبامی معناچه څلاند ده دسرو گلانو مفهوم پیدا کړیوی: په هرحال بامی پښتو کلمه اوپه پښتو کی تراوسه ژوندی او مستعمله ده

اسپه Aspa : دباختر په تاریخ کی داکورنی خورا شهرت لری اوپه اوستائی نومو کی دآس په نامه تسمیه خورا ډیره ده تراوسه هم دغه آریائی اسم په پښتنو کی مروج دی اوډیر خلق خیل نومونه آسگی، سکان، کورنگ، مشکی ، بور خان، بیاگی، زدی. چه داسانو اقسام دی دبلخ دپاچاهانو یوه مشهوره کورنی داسی ده چه دا کشرو نومو په پای کی د (اسپه) کلمه راځی دانومونه زیاتره هم پښتودی، پخپله د(اسپه) کلمه دآس مونثه ده، څکه په پښتو کی داعام رواج دی چه دمال داری حساب په مونث جنس کوی لکه چه وائی زلمی زراوښی لری زرمیږی لری همدا ډول دخانانو ملی سپاره چه دضرورت په وخت کی به ددولت خدمت ته حاضر یدل، هم په خپل اسپه، خود اسپه، مشهور وو، لدې کبله په پخوانی زمانه د(اس) پهځای (اسپه) یاده شویده،لدغو پاچهانو څخه لاندی اوستائی نومونه کټمټ پښتودی لکه (خواسپه) یعنی ښه اسپه چه لومړی کلمه ئی هغه (خو=هو) ده چه دپښتو ښه اوخه پدی معنا تراوسه ژوندی ده یاد لهر اسپه کلمه چه لومړی جزء (لهر) دی دموج، تنداو چټک معنالری، چه کټمټ ئی دغه معنا په اوستاکی هم در لوده ځکه داکلمه په اوستاکی په قدیم ډول اروت اسپه Auruat Aspa هم راغلی چه معنائی چټک آس دی (گاتها ۹۵مخ) مگر لهر په لوړه معنا داسی مستعمل دی خوشحال خان وائی :

خوار خوشحال ئی لکه خس هسی لاهو کړ

چه د عشق سیلاب را و خوت لهر لهر

عبدالقادر خان وائی :

گوره څو عالم بهورك څو به خراب کا

لور په لور د غمو سند وواهه کا لهر

همد غسی داوستا دیبان اه قراره د زر دشت څلورم نیکه « هچت اسپه Haechataspa دی چه داکلمه ، دپښتو د ادبیاتو دلومړی ټوك لیکوال له دوو جزء وځخه مرکبه بولی (هچت اسپه ) اولومړی جزء ئی د پښتو (وچت) تحلیل کړی او د (اوچتی اسپی) یعنی جگی، قوی اسپی معنا ئی ترې اخستی .

راغه Ragha : داکلمه هم دپښتو دادبیاتو دتاریخ لیکوال دراغه په معنا اخلی چه په پښتو کی په وښو شین دښت ته وائی اوپه پوونډو خلقو کی دالغت ډپر مستعمل دی . خو شحال خان وائی :

چه تل می ځای شول غرونه رغو نه

زه داپه چا پسی مجنون صفت یم

سپین غر Spinghar : داغر دهیوادپه شرقی ولایت په ننگرهار کی مشهور غردی ځکه چه هروخت ئی سر په واوره پت وی نوسپین غر بلل شوی اودانوم له قدیمه تراوسه مشهوردی په اوستائی داغر سپیتا گونا گری Spita Goonagairi ذکر شوی چه سپیتا (سپین گونا رنگ) بڼه ، او گری د(غره) معنا لری یعنی (سپین غر)عین پښتو کلمه ترې جوړ یږی .

دځینو وسلونومونه : داوستاتاریخی کلمات چه موږئی په پښتو کی رینی مومو ځینی دوسلو نومونه هم دی، له دغو کلمو څخه خوده Khaodha ډیره مشهوره (ل) ابدال کلمه ده چه د پښتو (خول) ترې جوړ شوی دلته یوالحی (د) پخپل هم مخرجه توری شویدی بله اوستائی کلمه چکوشه Chakusha چه دیوې وسلی نوم ؤ، اواوس دغه کلمه په پښتو کی د(چکوش) په ډول مستعمله ده، خپل قدیم مفهوم ئی ساتلی دی ددوی بله مشهوره وسله غشی اولینده وه چه غشی ته ئی اشو Ishu وایه اودغشی کلمی ته ډیره نزدی ده بره مودویدا ، اواوستاخورامهم عنصری مواد مطالعه کړل چه په اوسنی پښتو کی ژوندی اومستعمل دی ،دالنډه مقایسه اوپرتله کول نظر نورو آریائی ژبوته دپښتو اصالت اوقدامت خورابنه بنکاره کوی، او څرگندیږی چه پښتو خورا مستعده ادبی اوپراخه ژبه هم ده ،څکه سربیر دتذکیر اوتانیث په لرلو دماکنې اوبی سالیاره ځانگړی لفظی علامات لری، دجمعې

افغانستان ۵۰۰ جلد

اقسامئی خو را و سیع اوپه آریائی ژبو کی دستاینی وړ گڼله کیږی پښتو پخواتردې چه پخپله پښتانه ئی عنصری او گرامری اهمیت تـه ځیرشی ټولو ژب پوهانو اومستشرقینو وپـژاندلـه اود خپلو اوزدو خیـړنو په سبب ئی پښتانه هـم د خپلی ژبـی روز لوتـه چمتو کړل . دلته دا برخه پـدی ځـای ختمو م اوپس لهدې دپښتو دادبیـاتو په درهمه حصه شروع کوم . . .

دوهمه‌دوره : دپښتو ژبی‌دقدامت اولرغونی توب دبحث دلیکلو څخه وروسـته چه لومړی برخه موو بلله ، دادی د پښتو ژبی په‌دوهمه یاادبی دوره‌پیل کوم .

دپښتود ادب دوهمه دوره داسلام لهدوهمی پیړی شروع او تر (۹۰۰ه) کال پوری ادامه مومی ـ دا دوره چه : « دسوریانو غوریانو ، لودیانو»، عصردی په دوو برخو سره وېشله کیږی لومړی : انشائی او وصفی ادب ، ددی دواړواړیکی یوله بله سره ، دادب اوشعر دتحول‌مؤثرات : زمان ، مکان ، سیاسـت مذهب ، ذهنیت ، اقتصاد ، علم ، پخپله ، ادب دادب پرتله کول سبک ،مشاهیر،ادبی‌مکتبونه،دشعرتدریجی‌تحول ، اوښتنه، د ژبی لفظی ، معنوی او گرامری استعداد په لنډ دود ، مشو قین تاریخ ، دهغوی دژوند . . .

دوهمه : دپښتوملی ادب او دپښتو ادب پر اصالت باندی ځیړنه نکلونه ، ناری ، لندی د لندیو د موضوع ادبی و سعت ، دپښتنو داخلاقیاتومظاهر، ژبه ، متلونه، قصی ، کوچنـی قصی غنمنات . . .

لومړی پلا باید وپوهیږ وچه تراوسه‌نه پخوانو ، اونه دنوی ادبی پر مخ تک(نهضت)لیکوالو دپښتو دادب تاریخ دعلم او فن پربنسټ باندی په یوه‌مجمل ډول‌سره هم نه دی لیکلی ، هو! هغه یوشمیر پښتو کتابونه‌چه‌دنوی‌ادبی‌نهضت پەرنا کښی زموږ ځینو پښتنو پوهانو لیکلی دی گه‌څه‌هم‌دوخت په نسبت دکمیت له کبله متعدد دی ، مگر دعلم او کیفیت‌له پلوه یوئی هم دپښتو د ادب تاریخ نشو گڼلی ، ځکه داشان آثار دموضوع په حیث د شاعرانو نیمگړی تذکرې دی نه د پښتو دادب تاریـخ ، زه «لیکوال» چه له (۸) کالوراپه دی‌خواد کابل په یونیورستی (پوهنتون) کښی دپارسی او پښتو دمقایسوی ادب د (استاذ) په حیث مصروف یم نو (ادب) پیژنم چه لیکل ئی څونه کـړاو او صحیـح افاده ئی د علم له پلوه‌بیل او د فن له ډډی جـلا ترکومه حده پوری کړاو ، اوستونځه غواړی . . .

داوړو کی اثر چه زهئی په لیکلوباندی بوخت یم ، هر کله چه دآریانا دائرة المعارف دعالی‌ټولنی لهخوا ماته د پښتو آریانا دائرةالمعارف پرعلمی سویه دیوی مقالی په دود سپارښت شوی دی ، نودا اثر هم‌بشپړ ډول د پښتو له ادبیاتو څخه نمایندگی نشی کولای . . .

ـگر دونه به‌وی چه دا اثر دادبیاتو په علمی اوفنی بنسټ بـنا شوی او موضوع ته په‌صـریح لهجه سره لاربښـوونه ، کـوی (نو دپښتو دادب دعلمی اوفنی اساس‌لومړی تیږه ئی بللای‌شو ) له دې‌وجهې کیدای شی چه‌په دوهمه پلادپښتو دادب د پوهانو په سترهمت دپښتو دادب دتاریخ په‌حقیقی‌جوله‌تحول اوپراخوالی ومومی‌اودپاک‌خدای‌په‌هیله‌به‌بله پلا له‌دی کوچنی اثرڅخه دپښتو دادب تاریخ‌جوړشې که‌دڅېښتن‌رضاوی . . . . . په‌مطلب پیل:

ادب په دوه ډوله دی : انشائی او وصفی ادب :

اول: انشائی ادب : انشائی ادب‌پخان سره شعر او مأثورکـلام په وائی ، لکه قصیده ، غزل ، څلوریځه ، دفنی ادبی نثر کتاب ر ساله چه‌شاعر ، یالیکوال ئی لومړی پلاایجادکاندی ، په‌دی تعبیرهرډول‌اشعار، لندی ، نیمکی،دوه‌ایځی،څلوریځی‌اوهرډول نور اشعار نظم وی که نثر په‌انشائی ادب کښی ګڼون لری دا ډول اشعار ، او اوآثار دفطرت الهام‌دی چه‌منشی او شاعر ئی فقط او فقط دفنی بنایست دښوونی په دوداحداث کاندی ،په بل‌عبارت ، شاعر هغه اغېزې چه‌د عقلی اوخارجی مناظرو څخه ئی له ظاهری عقل څخه دحواسواومشاعرو په ذریعه ، باطنـی وجدانی عقل ته ورسپاری نو ، هغه‌ببر ته د عمل اوعکس‌العمل په‌ډول دشعر په‌ډول‌څرګندوی،خودمهذبوالناظو،او مخصوص‌تخیل په ظـروفو کښی چه اروبدرنګی ترتاثیر لاندی راولی . . . .

کله داسی هم‌کیږی چه دا ډول انشائی اشعار دمنشی او شاعر له‌وجـدان څخه داسی هم‌څرګندیږی لکه نغمه له چونې ، بوی د ګل ، او پلوشـی له‌لمره څخه ،نوداراز طبیعی ، او فنی آثار چه دبشری ژوندی اجتماعی‌ډډی موږ ته ، راز ده کوی ، هر برخه ئی یوفنی منظره ده خوچه دکلام په‌لوښی کښی ولوږیزی نو هغـی نغمی اوتصویر ته‌ورته وی چه‌زمونږی په‌نفس کښی د جـمال عاطفه‌راویښه کاندی . . . لدې کبله انشائی ادب په‌صحیح اوحقیقی معنا سره اصلی ادب دی چه دشاعر او لیکوال له‌خوا لومړی‌پلاابداع کیږی ،اوشاعردخپلوملکاتو په ادبی انتاج سره مجبول اومجبور ګڼل کیږی ، خوباید داهم‌وویل شی چه‌انشائی ادب په لوی سره کښی‌دهغو موثراتوتابع‌وی چه‌پخپله شاعر او منشی‌له هغو څخه‌قهراً پیروی کوی لکه محیط ، ټولنه ، زمان مکان‌اواجتماعی‌حوادث . . . . په‌دی‌قرارهغسی چه‌شعرله‌موثراتو څخه الهام اخلی او هرحقیقی شعر د محیط هنداره وی همدغسی هم پخپله شعر په‌خپلو موثراتو کښی اغېزې کـوی او له دی ځایه څخه دشعر تحویل اوتدریجی تطور شروع کیږی چه‌ددی تحول په نتیجه کښی «سبک» او سبکونه منځ ته را بـاسی .

وصفی‌ادب : وصفی ادب لکه انشائی ادب ، دطبیعت له بنایست څخه بالذات تعریف نه‌کو په غم‌اوښادی رضا اوغضب‌اړه‌نلری بلکه داډول ادب کله دفن او ذوق له‌مخی‌او کله د علمی تحلیل

تبتع له لاری-پرانشائی ادب څېړنه کوی نو انشائی گرد سره فن او اصلی ادب دی اووصفی ادب د عصری پوهانو په اتفاق د دادب علم دی ، چه د لغت ، گرامر ، معانی ، بیان ، بدیع تاریخ او نور و پوهنو په چوکات کی پر انشائی ادب باندی ادبی او منطقی څېړنه کوی ...

دانشائی او وصفی ادب په منځ کښی اړ یکی : هغه نسبت او علاقه چه دانشائی اووصفی ادب په منځ کښی موجوده ده ، وهغی رابطی ته ورته ده چه طبیعی اوریاضی دفنونو ، اوددې دواړو څانگو دعلومو په منځ کښې موجوده وی ... او دا ځکه چه انسانانو پخوا تردې چه طبیعی او ریاضی علوم د تجربی په اساس جوړ اوتدوین کړی، له طبیعی اوریاضی فنونو څخه خبروو، اوله هغو فنونو څخه ئی دعمل په ډگر کښې استفاده کوله ، مثلا دفاصلو عرض اوطول ئی، کاچه، درانه شیان ئی تلل ، اجسام ئی پیژندل، له ستورو څخه ئی پخپلو مسافرتو نوکی دلار ښوونی کاراخست، خودوی هغه وخت لاهغه علمی نظرئی لانه وی ثابتی کړی، چه وروسته دتجربو پر بنسټ اثبات شوی اوله ټولو ثبوتونو څخه علم یاعلوم جوړشول ... بلکه دنړۍ په هر گوټ کښې لاتراوسه پوری هم داسی ټولنی شته دی چه هغوی څنی فنون پیژندلی دی، مگر دهغوی دعقلی سویې ضعف دوی دهغو پیژندلیو فنرنو ، دعلومو په جوړولو موفق نه کړل ...

پدې ډول دانشائی اووصفی ادب نسبت همدغسی دی، یعنی شاعرانو ، منشیانو لومړی پلاشعار جوړ کړل ، خو ترهغه وروسته انسانی ذهنیت نهضت وکړ او دهغه ادب اصول اوقواعدئی دعلم په چوکات کښی راغونډ کړل، خوپس له څېړنی څخه ئی مسلمات شرح اوپه ادبی فرمولو سم اوخلاصه کړل ... نوزموږ دپښتو ادب به هم (لکه یونانی، لاتینی اوعربی ادب چه دادوهمه مرحله هم طی کړی ده) طی کړی اوترانشائی ادب به یوبل کام هم پرمخ ولاړشی .

علل یادادب دتحول موثرات : دنورو عواملو په لړ کښې، لکه سیاست، اقتصاد، مذهب اجتماعی پېښې « زمان او مکان» دشعر اوادب په کیفیت کښې لویلاس لری، ځکه دادوه ستر موثرات که دطبیعی، جغرافی ډډی له خوا، او که داجتماعی اړ خوله پلوه ئی واخلی دشعر اوادب په مقدراتو خو را ستړې اغیزی لری، اودنورو ژبو دشعر دتحول له موضوع څخه څرگند ښکاری چه په دې تغییر اوتحول کښې ترمکان د زمان رول خورا مهم دی، ځکه که موږ دیونانی اوعربی،لاتینی اشعارو دتحول له موضوع څخه راتېرشو، نودپارسو دشعر په تغییر کښې هم زمان ترمکان خورا اهم مثال څرگند ګړی دی، مثلا هغه مهال چه دپارسی شعر په غزنوی دوره کښی (۳۵۰ - ۵۵۰ه)دپخوانواشعارو معنوی اولفظی جوړښت دخراسان د«سبك» په شکل تثبیت کړ، نو په هغه زمانه کښی ددې سبك ر سمیت په هند، بخارا، اوسنی ایران کښې هم ومنل شو، اوټولو د افغانستان یادغزنی له ادبی سبك څخه په اشعارو کښی پیروی کړی ده، خودمکان اغیزی په شعر کښې هغه وخت خورا سبکی برېښې،ددې خبری اثبات دهغی دوری دشاعرانو له اشعارو څخه چه دلته یونو، تاټوبی، داختلاف سره ئی دافغانستان ددری له سبك څخه تقلید کړی. خورا آسانه کاردی .

سیاست : هغسی هم که موږ سیاست دادب دترقی اوتنزل معیار وگڼو، اودنورو متمدنو اقوامو شعرته دسیاست له کبله په مختلفو دورو کښې کتنه وکړو، څر گندېږی چه یوازی سیاست دادب اوشعر په تحول کښې غټی اغیزی نه لری ځکه سیاست البته په درباری شعر کښې موثروی خودر باری ادب که څه هم کله کله پلنوالی اواوږدوالی څرگندوی مگرله دې کبله چه دیوه ملت له شعر اوادب څخه نمایندگی نه شی کولای او غالبا پر کذب ، مبالغه اومادی استفادو باندی ولاړوی، نوعمق نه لری، اوپرملی ادب، هغه ادب چه دیوه ملت له اجتماعی روح څخه بهرته راوزی. دونه اغیزه نه غور زوی، نودرباری اشعار دیوه ملت دشعر اوشاعرۍ معیار بلل ستر ه ادبی غلطی ده چه تاریخ مسخه کوی که څه هم دمحیط سیاسی پېښو، دپښتو پرادب لږاوډېر تاثیر کړی دی ، مگر په مطلق ډول یوازی سیا ست دپښتو ژبی داشعارو معیار نه بلل کېږی ... دکتور طه حسین دخپل مهم اثر (ادب جاهلی) په مقدمه کښې لیکی : کله د سیا ست دضعف یعنی دتجزیې په زمانه کښې رقابت دادب دترقی باعث شی، لکه په اروپا کښې دنوی نهضت په دوره کښې چه د اطالیې دښارو، یوله بله سره چه رقابت دهغې ژبی داشعارو د تر قی سبب شو ... ...

یادمیلاد په پنځمه پېړۍ کښې چه د یونان داصلی ښارو، له یوې خوا، اودهغه مملکت داطالوی مستعمراتو په منځ کښې له بلی خوا دتجزیې په مهال کښې چه ر قابت دیو نانی شعر او ادب دپرمخ تګ باعث وگرزېده ... حال داچه سیاست ئی کمزوری اوگډوډ ؤ .. نو لکه چه وموویل داخبره یوه علمی غلطی ده چه موږ رسمی سیا ست دشعر اوادب مقیاس وگڼو... اودرباری ادب له ملی ادب څخه بیل اوجلاجلا تحلیل اومحاکمه نه کړو ...

ادب اوعلم : که موږ علم دادب مقیاس وبولو ، له دغو مشکلاتو سره به مخامخ شو :

۱ - پ۱۹ پېړۍ کښې راجع ادب ته په فرانسه کښې یونوی مذهب منځ ته راغی چه دهغه په قرار دادب ناقدانو په دې خبره اتفاق درلود چه دادب تاریخ هم لکه نورطبیعی علوم ، یوعلم وپیژنی، خوپه دی کښې چه ددې مهم لپاره څه لار غوره کړی په کرکیچ سره اخته شول ، د علماؤ له ډلی څخه :

اول بوف Sointe Beive : غو ښتل ددې نوی علم قواعد دشاعرانو، لیکوالو له‌شخصیاتو څخه دنفسی‌اوعضوی درس په شکل دغسی سره استنباط اومرتب کړی لکه چه‌دنباتاتو پوهانو چه دنباتیه کورنیو په منځ کښې ترتیب نیولی دی، بو ف ویل چه دشاعر اولیکوال مادی معنوی مزاج ددوی د بیان په ادبی نتائجو کښې‌ډېره اغیزه لری، دی‌معتقدؤ، دامزاجونه که څه‌هم پخپل منځ کښې اختلاف سره لری ، بیا هم ددوی په منځ کې مابه الاشتراك یوډول تشا به حتمی ده لکه : که‌داسی نه‌وی‌نودوی‌نشی کولای چه‌دنظم اونثردفن په موضوع کښې‌سره متفق‌شی، امکان لری‌چه‌له‌یوې‌خوادهغوی د شخصیاتو ممیزه استنباط کړو ، اوله بلی خوا لکه نورو پوهانو علمی اصول اوقوانین خلاصه اوادب‌تاریخ‌دعلم په‌چوکاټ کښې‌محدود اوتحلیل کړ و ... تین Taine یو بل پوهاند بی له احتیاط څخه فردی شخصیاتوته‌اهمیت نه‌ورکوی، دی‌وائی علمی قوانین عامدی باید په‌هرڅه‌تطبیق‌شی ، نودشاعرانو شخصیتونه‌څه‌دی ؟ له کومه‌شوی‌دی ؟ شاعرانو هغسی چه خپل ځانونه ئی نه‌دی پیژندلی ، نوددوی فنی آثار هم دهغوی ابتکار نه دی بلکه یه‌نړۍ کښې هیڅ‌شی‌نه‌ابتکار کېږی ، اشیاتول دعلت تابع‌دی، مادی اومعنوی عالم په‌دی کښې هیڅ تفاوت نه‌لری ، نوشاعر اولیکوال دهغوی له‌شخصیتو څخه نه‌پیژندل کېږی ، او دوی دهغو موثراتو له‌مخی‌څخه‌پیژندلای‌شو ، چه دوی اوټوله انسانی نړۍ دهغو تابع ده... فرد هرځوك‌چه‌وی دخپل جنس ، محیط اوملت اثردی ، دفرد ، اخلاق، عادات ، ملکات دتخیل ممیزات له دوو لاندنیو موثراتو څخه جوړیږی اوبه‌دی دنیا کښې‌واړه شیان‌دی دغوموثراتو تابع‌دی ، لومړی مکان‌اواقلیمی موثرات دوهم ، زمان ، اوهغه حوادث چه له‌زمانی‌څخه تتبع کېږی.لکه سیاست ، اقتصاد ، علم ، مذهب ، ذهنیت ، تر بیه ، او نور ...

نودغه حوادث دی چه‌هرځیز دتطور اوانتقال له‌پاره آماده کوی - شاعر اولیکوال چه‌دجنس،محیط او زمان زامن‌دی،باید دوی اوددوی آثار له‌هغو موثراتوڅخه پیداشوی‌دی چه دوی‌ئی هم جوړ کړی اودهغو آثار دانشأ استعدادئی ورکړی دی .

برونتیر Bruntiere : داپوهاند،دادب فنون‌د(دارون) دنشو دارتقأ ، دنظریی تابع بولی ، دی وائی هرکله چه پخپله شاعر اواديب هم‌دنشوو ارتقا داصل تابع‌دی ، نوشعرچه دده اثردی‌په څه‌ډول له‌دغی څخه محفوظ پاته کېدای‌شی ، د نتائجو څخه څرګندېږی‌چه‌شعرایجادشی اوبیاله‌یوه حاله بل حال‌ته‌رااوړی دغسی هم‌انسان پخپله داصلی حال څخه دونه تحول کړی‌دی‌چه له‌خپله اصله څخه خورا لری‌شوی‌دی .

په‌اصل کښې دشاعر او لیکوال پیژندنه دو نه مهمه نه‌ده بلکه هغه‌موثرات‌اوادبی فنون خوراهم‌دی چه شاعر او لیکوال ئی دوجود ډګر ته‌راوستلی دی ، دلته نوبیا برونتیر، دیونان تمثیلی‌ادب ترڅېړنې لاندی نیسی ، اودهغو اشعارو ، په دینی ، سیاسی ، اجتماعی اړخونوباندی علمی‌څېړنه کوی، اودیونانی شعر تدریجی تحول دحوادثو په‌رنا کښې دفرانسی‌د۱۷ میلادی قرن بلکه د۱۹ قرن تررونسانس پورې تتبع کوی اوددی‌کار خور استرو مشکلاتو ته‌اشاری کولی اوبیانود و پکتور هوګو شخصیت دمثاو په‌ډول داسې څرګندوی :

۱ - شخصیت : ولی ویکتور هوګو ، نه‌شی کولای چه ویکتور هوګووی ، یادخپل نبوغ آثار پخپله ایجاد کړی .

۲ - عصر : څه‌له دویکتور هوګو زمانی‌دده شخصیت نه‌دی تحلیل کړی ، چه‌دده ممیزات دجنس نوروزامنوتشخیص اوتحلیل کړی‌دی .

۳ - محیط : ولی محیط هوګوته ، دده دجنس تر نورو افرادو امتیاز ورکړی‌دی ...؟

٤ - جنس : څه‌له‌دجنس امتیازات بشپړ ، یانزدی دبشپړ تیا ته‌د هوګو په‌شخصیت تبارز مومی ، نه‌دده دجنس د نوروزامنو په‌شخصیتونو کښې ...؟

نوهرکله چه‌دادب تاریخ له‌دی څخه عاجزدی چه‌دویکتور هوګو نبوغ تحیل اوتفسیر کړی ، دادب تاریخ ترهغه وخته پورې منتج علم نه‌شی کېدلای چه‌شاعر اولیکوال‌له شخصیت څخه بیل نشی ...

ادب ، دادب مقیاس : که‌ادب پخپله دادب په‌مقیاس وتلو، نتیجه به‌داوی چه که‌دادب تاریخ یوازی‌علم‌شی نوییوو چ اوعقیم شی به‌ترې جوړشی ... او که‌چیری‌ټول‌له‌فن څخه جوړ وګڼل‌شی، له‌انصاف څخه به‌عاری وی، ځکه‌هربحث چه دتاریخ لیکوال‌تر څېړنې‌لاندی نیسی ، دده شخصی ذوق به ورسره ګډوی ، اود هرشاعر اولیکواو دذوق په‌مورد کښې به‌دی‌خپل شخصی ذوق‌هم مکرر راوړی اولیکی به‌ئی ، نوجوته خبره داده چه دادب په تتبع کی هغسی چه‌په‌علمی بللو کښې‌له اغیزاق څخه باید ځان وژغورو ، له‌فنی بللو څخه‌ئی هم‌ځان باید وساتو ، پدې تعبیر سره نتیجه داشوه چه‌دادب تاریخ‌دوې ډډی‌لری ، یوه‌ئی خالصه علمی ، او بله‌ئی محض فنی ډډه،خودادوې برخې یوه له‌بلې‌څخه بیلوالی هم‌نه‌لری - ځکه‌تراوسه‌دغسی یو کتاب‌نه‌دی لیدل شوی چه‌یوه برخه ئی علمی او بله‌ئی فنی‌وی - مګر علمی قسمت ئې خورا مروج دی ، اوس باید په‌صریح عبارت روا یو چه‌د ادب تاریخ نه‌ټول علم‌دی اونه ټول فن ، بلکه له‌علم او فن څخه ترکیب اوجود شوی‌دی .

دپښتودادب سبك : په‌دوهمه دله کښې چه‌ځینولومړی‌دوره هم بللی‌ده ، دپښتو ادب سبك خورا پوخ مګر ساده او ملی وزن لری ، پښتوئی‌سوچه اوزاړه لغات‌لری،الفاظ ئی‌دآهنګ خاوند،

اوخورا سهم جن‌دی ، شعرئی دتخیل په‌لحاظ نهایت ممتازاود پښتنو داخلافو، متانت،اخلاص ، ایمانداری، هنداره ده ، حماسی مضمون ، شجاعانه ، جذبات ، حسی تشبیهات ددې دوری دشعر ممیزات دی ، شعری وزن‌ئی له‌مستقلواوزانو ، اوملی ذوق‌څخه جوړشوی ، سبك‌ئی دلفظ اومعنوی‌اسلوب په‌لحاظخورا متین اوله پردی، اغیزی څخه محفوظ لیدل کیږی، ددې دورې په‌اشعارو کښی هغه پخوانی پښتو لغات استعمال شوی‌دی چه‌ولیی ئی موږ په‌ویدا ، سنسکریت ، اواوستا کښې ، پخواتردې څرګندی کړی نود پخوانوویدی اواوستائی‌لغاتو دوجود په‌قرینه چه‌ددې دوری په‌اشعارو کښی استعمال‌شوی‌دی، داسی څرګندیږی چه تر اسلام پخوا ډېره موده په‌دی ژبه کښې اشعار ویل‌شوی دی تر څو چه وروسته‌ترډېرو‌پېړیو،دپښتو دشعر پوخوالی‌ودې‌درجی‌ته‌رارسیدلی دی، خوهر کله چه‌زموږلاسته بی‌له‌امیر کرورسوری له‌شعر څخه چه‌په ۱۳۹ هجری کال‌ئی ویلی دی ، تر اوسه بله کومه نمونه نه‌ده راغلی ، نولابدمودامیر کرور سوری قصیده د پښتو ژبی دلومړی شعر په‌حیث وګڼله .

اوس که‌موږ په‌څه قدر ژوره کتنه سره ددې (سبك) ومتانت ته ځیرشو ،داسی معلومیږی چه‌هم دمادی ډډی په‌لحاظ لکه بحر ، عروض ، قافیه ، سیلاب (آواز «سین» ) او هم دفکر ، تخیل، احساس ، عقیدی ، پښتنی روح ، او ادبی ښایست له کبله لکه تشبیه، استعاره، دلهجی صراحت ، د اسبك له نورو را تلو نکو سبکو څخه دخاص امتیاز لرونکی دی ، مثلا : د کلام انسجام مستحکم ،لغات مفرد دی، اماپخپله‌معنا باندی تام دلالت کوی ، په‌الفاظو کښی تعقید، تنافر، دروندوالی‌نشته، دبیان طرز‌بلیغ ، ساده اوفصیح دی ، هرکله‌چه ددې دورې دشاعری مهم عنصر قصیده ده اوپښتنو سوریانو، غوریانو، لودیانو درسمی او ملی سیاست د تلی پله هم درنه وه نو حماسی افکار او شجاعانه القاءات ددې دورې په اشعارو کښې ، خورا زیاته برخه لری ، دلهجی صراحت ددې زمان دشاعرانو ادبی ممیزه او ددوی له نظم‌او نثر څخه څرګندیږی .لاندی دشاعرانو دحال اواشعارو په‌لیکلو باندی‌پیل کوو:

امیر کرور جهان‌پهلوان : امیر کرور دامیر پولاد سوری زوی‌دی ،امیرپولاد، دملك شنسب‌له‌زامنوڅخه‌ؤ، چه‌په‌غور کښی ئی پاچهی کوله ، کرور په(۱۳۹ه) کال‌دغور په‌مندیش کښی پاچا شو،دی یو تکړه غښتلی، ،کلك او محکم سړی‌ؤ، چه‌په یوه تن به‌له سلو تنو سره جنګیده ، نوڅکه‌ئی کرور او جهان پهلوان بللی‌دی... پټه‌خزانه دتاریخ‌سوری په‌حواله لیکی چه‌دا امیران‌په پېړیوپېړیو په‌غور هستیدل ، اودهغه سور له‌اولادی څخه‌دی چه د(سهك) له‌پښته څخه‌ؤ...

امیر کرور دپښتو یوستر شاعر دی ، وائی دی یوعادل ، ضابط سړی اودښی وینا خاوندؤ، هرکله به ئی شعرونه ویل ، هغه‌مهال چه‌په‌جګړو کی‌ئی‌ډېر‌بری‌پر نصیب‌شو ،نوډېره‌خورالوړه حماسی سندره ئی جوړ کړه چه وياړنه‌ئی بولی ، امیر کرور دشیخ کټه د(لرغونی پښتانه) نومی کتاب پرحواله په (۱۵٤ه) وفات شوی دی .

دسور دکهول لنډه پېژند ګلوی : دسور کهول چه‌غوریان ئی‌هم زاوزیره ده دلین‌پول انګلیسی مستشرق په‌قول چه‌پخپل (طبقاة سلاطین‌اسلام) کتاب کښی‌لیکی : له‌خورا پخوانو زمانو څخه چه‌تاریخ ئی‌نشی محدود کولای ، په‌غور کښی یو کوچنی مستقل سلطنت درلود ، داسلام په‌اول‌سر کښې هم‌دوی‌خیل واکی پاته‌شول (۳۱ه) د اسلامی مورخینو په وینا، لکه ابن اثیر، په الکامل او بلاذری په‌فتوح‌البلدان ،اوامام طبری په‌تاریخ طبری (۷۳-۷۹مخ) کښی‌لیکی : دسورد کهول یوسړی ماهوی سوری دساسانیانو په‌وروستی‌دوره کښی دمروی‌والی‌وداسی څرګندیږی چه، دا کورنی دسهاك ، ساکا له اولادی څخه، او ور نیکه ئی (سهك) دپخوانو پارسیانو سترافسانوی دښمن‌ؤ،نودا کورنی هم‌دخپلو قومی عنعنو په‌وجه هروخت چمتووه چه که ممکنه شی د ساسانیانو امپراتوری له‌برمه وغورزوی ،پردی اساس ماهوی سوری په‌مغربی افغانستان کښی دمسلمانو عربو د راتلك هرکلی وکړ، اویزدګرد ،دساسانیاتو مطرود پاچائی دوه ځلی له‌مروې څخه‌وشاړه ،خوبیا هغه وخت چه یزد ګرد ، ماوراء النهر پاچا دخپلی مرستی لپاره له‌خورا ډېری سپه سره مغربی افغانستان ته را ووست ، بیاهم ماهوی سوری دنیزك طرخان با دغیسی مشر په ملګرتیا د(الاحنف) عربی قوما ندان ملاوتړله ، اوپه ګډه‌سره‌ئی‌خاقان‌اویزدګرد ته‌ماتی ور کړه ، مګربخت اوښتی یزدګرد بیا مروې‌ته ورغی خوداپلا دمروې یوه ( ژرند ګړی) وواژه اومړه ئی په‌مرغاب کښی‌وغورزاؤچه بیا دنسطوری ډلی عیسویانو ، دهغه‌بدبخت پاچا مړی پارس‌ته‌یووړ ...

طبری ٥ جلد (۲۳۲-۳۳۳مخ ) لیکی : ما هوی د مروې مرزبان په۳٦ه دحضرت علی (رض) حضور ته‌ورغی‌اودخپلوی معاهده ئی ورسره لاسلیك کړه ، ددې وجه څلورم خلیفه پخپل فرمان کښی له‌ماهوی څخه‌د (رضائیت کلمه‌لیکلی‌ده ) دسوریانو د پاچاهی‌اوامپراتوری‌په باره کښی‌به‌وروسته څه‌ولیکو» اوس دامیر کرور سوری د حماسی سندری یوه برخه چه د (۱۳۹ه) په‌حدودو ګښی ویل‌شوی ده لاندی لیکو :

سندره :

زه یم ز مری پردی نړی له ما اتل نشته
په هند و سند و پر تخارپر کابل نشته
بل ز ا بل‌نشته
له ما اتل نشته

غشی دمن می ځی بر پښتا پر میر ځمنو باندی
په ژو بله یو نم یر غا نم پر تښتېد نو با ندی
پاما تېدنو بانـدی
له مـا ا تـل نشته

دمادبریو پرخول تاو ېژی هسك پر نمنځ و په ویاړ
دآس له سوومی مخکه ربړدی غرو نه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه وجاړ
لـه ما ا تـل نـشته

زما دتوری ترشپول لانـدی دی هرات او جروم
غر ج و بامیان وتخار بولی نوم زما پـه ادوم
زه پژندوی یم په روم
لـه ما ا تـل نشته

پرمرو ، ز ماغشـی لونی ډاری د ښن را څخـه
د هریوال رود پر څنډو ځـم تښتی پلن را څخه
ر پی زېن را څخه
لـه مـا ا تـل نشته

خپلو و ګړ یو لره لور پیرو ز و ینه ګـوم
دوی په ډاډ ینه ښه با مم ښه رو ز نه ګـو م
تل ئی ودنه ګـو م
له مـا ا تـل نشته

پرلوړ غرومی و ینا د رومی نه په څنډو په تا ل
نړۍ زماده نوم می بولی پر دریـځ ستائـی وال
په ورځو شپومیاشتو کال
لـه مـا ا تـل نـشته

په دی لو ړه سندره کښې لرغونی لغات : من = عز م ، اراده ، بریو = شجاعت مړانه ، هسك = آسما ن ، لتاړ = تېټ ، کښته ، مرځمن = دښمن، ژوبله = جګړه ، یونل = الوتل ، یرغالل = هجوم وړل ، اودوم = سپاس ء دښن = غلیم، پلن = پلی ، زېن = زېور، شجاع، لور = روا داری، بامم = پرورده کوم ، دریځ = دخطبی منبر، ستائی وال = مداح ، امیر کروړ تقریبا یوزر اودری سوه کاله پخوا دافغانستان ځینی تاریخی ځایونه پخپل شعر کښې په هغو لر غونو نومو سره یاد کړی دی لکه : زابل غزنی، قندهار، کابل، تخار = قطغن، هر یوال رود = هریرود، غرچ = اوسنی پنجاب، جروم = اوسنی ګرمسیل...

ددې امیر له سندری څخه داسی څرګندېږی چه داد پښتو ژبی لومړی قصیده نه ده بلکه داشعر دخپل کلك روش په وجه دیوه پاخه سبك ، نمونه ګڼله کېږی چه نور اثارئی لاسته ندی راغلی .

ابومحمدهاشم : داشاعر په (۲۲۳ه) کال دهلمند په سروان کښې (ښائی اوسنی ساروان کلا وی ) زېږیدلی ، او بیائی په بست کښې له پوهانو څخه لوست کړ یدی ، نوموړی په عربی، پارسو او پښتو کښې شعرونه ویلیدی ، د معر وف عر بی ادیب (ابن خلاد) شاګرد ؤ، اودهغه ډېر اشعارئی په پښتو نظم ترجمه کړیدی ، دابو محمد هاشم دیوی ترجمی څوبیته لاندی ولولیء :

ژبه هم ښه و یناکاندی چه ئی و ینه
دخاوند په لاس کښی زر او درهـم نه
ژبور ، ورله راځی وینائی اروی
ددرهم خاوندان تلؤی په ویاړونه
درهم ژبه ده که څوك ژبه وز کېږی
ده وسله که څوك پری کاندی قتالونه

دابو محمدهاشم په دی ترجمه کښی دغه لغات پخوانی دی :

ژبور = شاعر ، ویاړ = افتخار ، فخر پته خزانه لیکی چه ابو محمدهاشم د عربی اشعار دبلاغت پرموضو ع په پښتو ژبه یو کتاب لیکلی ؤ ، چه د (سالوو زمه د) «ریګستان نسیم» ئی نوم دی ، محمدهوتک دتخمین له مخی وی چا ابومحمدهاشم په بست کښی په (۲۹۷ه) وفات شوی دی .

شیخ رضی لودی : رضی دشیخ حمیدلودی وراره ؤ، دشیخ حمید کورنی له (۳۵۱ه) څخه تر (۳۹۰ه) پوری دهند په ملتان کښی حکومت کاؤ ، او پخپله شیخ حمیدلودی له سلطان محمود غزنوی سره د لوئی پښتو نخوا دجوړولو په اسره ملګری شو ، اودهند دشمال اوغربی برخو کښی په جګړو کښی له غزنوی فاتح سره خوراښه ملګرمی وپالله ـ دسلطان محمود مورنی ژبه که څه هم پښتو وه ځکه دده مور قندهاری پښتنه میرمن ده ، مګر هر کله چه دعربی ژبی نفوذ اوسیاست هغه وخت دی حد ته ر سیدلی ؤ، چه د بغداد خلیفه دمحمود ، دپوه تهدیدی مکتوب په مقابل کـی په یوه کلمه یا یوه عربی توری چه دسلطان په ځواب کښی درمز په ډول ده ته راولیږله اوهغه یوازی (آ.....) ؤ ، او بیاورسته په ډیر زیارسره د غزنی دپوهانو له خوا د (آلم تر کیف دسوری) رمزوباله شو ، دی بلیغ اولنډ ځواب په سلطان محمود تردی اندازی اغیزه و کړه چه فوراً ئی خلیفه ته دخپل مکتوب عذریه تقدیم کړه خو وروسته سلطان دعربی ژبی دسلطی په مقابل کښی دپارسی ژبی په روزنه پیل و کړ ، اوپارسوئی په خورا بیره دعربی په مقابل کښی ودروله ، دلته داخبر مطلب نه ده چه غزنوی ستر ځلواک دخپلی مورنی ژبی پښتو په حق کښی څه کړ یدی ؟ بیرته دشیخ رضی احوال ته راګرزو ! شیخ رضی دخپل تره حمید په څېر پو نیک سړی اود پښتو ژبی پوخ ادیب ؤ ، وائی رضی شیخ حمید داسلام دتبلیغ لپاره دپښتو نخوا عر وته استولی ؤ او دخپل تره دزوی امیر نصرالحادثخه خبر شو ، نوئی نصر ته داسندره واستوله

شیخ رضی :

دالحاد په لوردی تریللل گروه‌دی زموږ وکوراوه
موږ رونلی په زیارونه تاپه تورو تورا وه
لرغون ولی گروهبدلی چه دی گوښی اراوه
لو دی ستاپه نامه سپک‌شو که هر څو مو درناوه
نصره نه‌موئی له کهاله لو دی نه ئی په کاوه
زموږ رغا ده ستاله گروهه دورځ لوی په زغا وه

له‌دی‌سندری څخه‌دشیخ‌رضی لودی‌درحمته‌الله‌علیهم‌دتقوی‌اودسپیڅلی مسلمانی‌افکار څرګند یږی چه‌خوراپاخه‌اوزاړه‌لغات‌هم لری .

لکه: گروه = عقیده‌و کوراوه = خراب کړ تور = تهمت لرغون اول کهاله کهول، کاوه کړه‌وړه‌رغا = بیزاری‌ورځ‌لوی = قیامت

امیر نصرلودی : د شیخ حمید لودی زوی دی چه دپلارترمړینی پس دشیخ‌حمیدبر ځای پا چا شو وائی چه نصر ده‌لحدانو عقیدی‌ته‌وراوښتی ؤ ، خو په لاندی شعر کښی‌له هغی عقیدی‌څخه کرټ انکار کړیدی ـ نصر پښتون ټولواک دپښتو ژبی ستر ادیب شاعردی ـ دالاندی شعرئی محمد هو تک په پټه‌خزانه کښی ضبطه کړیدی‌چه دشیخ رضی دشعر په‌ځواب کی‌ویلی دی:

دالحاد په‌تور ، تورن شوم زه لرغون خوملحدنه وم
زما دښنه هسی تورا کړی که ملحدیم د دښنه یم
له اسلامه نه ترپللمه تورا نو نه په تر پله یم
گروه می هغه لز غونی‌رده اوس هم کړور په‌لرغونه‌یم
د لودی زوی سستی یم د حمید له لوړ کهاله یم
د دښنو و ینا وی مغزه زه لودی یمه څوزه یم

بیټ نیکه : د پښتنو د علم الا نساب او هغو مو ر خینو چه اسماءالرجال ئی لیکلیدی په قول شیخ بیټنی د پښتنو دډیرو طائفو ستر نیکه دی ، وائی چه دی د غر غښت او سړ بن وروړ ابو الفضل دا کبر باچا د و خت مورخ (آئین اکبری ۲ ج، ۱۹۱مخ) کی لیکی چه دپښتنو ، دادری پلاره مشهوردی یعنی (دبیټنی، غرغښت، سړ بنی ) لاکن ددې نیکه‌نوم چابیټ، چابیټنی، اوچا بټن لیکلی، خو نعمت‌الله نورزی اوخانجهان لودی په مخزن افغانی کښې چه‌تر آئین اکبری ۱۲ کاله وروسته‌لیکل شویدی د«بیټنی» دشهرت یادکړی دی ، اخوند درویزه تنګرهاری په پښتو مخزن کی هم دبیټنی ، ذکر کړی، اماتردغو ټولو پخوانی اثرچه دشیخ بیټنی یا دونه ئی کړیده ، دسلیمان ماکو تذکرةالاولیاده چه‌پس له (۶۱۲ه) لیکل شوی وائی : د شیخ بیټنی دورور نوم، سړ بن‌ؤ،سړ بن زامن‌نه‌درلودل نوشیخ بیټنی‌خپل زوی اسمعیل هغه‌ته ور کړ، وروسته تر هغه‌ئی امن‌هم‌[illegible]،داسمعیل‌مرقدد کسی(سلیمان‌غر)پرغره‌واقع‌دی»

دشیخ بیټنی دژوند زمانه پښتنو مورخینو نده ټاکلی ، یوالحی خینی مورخین په ګمان سره‌وائی چه‌ی دغور دپاچهانو معاصر ؤ په‌دی تقدیر له (۳۰۰ تر ۴۰۰ه) پوری دده دژوند زمانه تخمین شویده ... مګر او سنی محققین داسی اتکل وهی چه دادری تنه یعنی «بیټنی، غر غښت، سړ بن» په ر ښتیا سره دپښتنو ورنیکونه دی، اواوسنی پښتانه ټول د هغو دریو ورونو اولاده ده، مګر دونه خبره‌شته چه‌دوی تر اسلام خورا دمخه تهر شویدی اود «پکهت، بخت، بښت، پښتون» زامن ؤ، دادری د پښتنو نیکونه زا په آریائیان دی ، چه‌ټول پښتانه ئی‌ا و لاده ده، بل‌داچه ددوی نومونه «بیټ ، غرغښت سړ بن» اسلامی نومونښه نه‌لری، اوپه هغه‌زمانه کښی چه پښتانه مورخین‌ئی دهغوی دژوندانه دورې ته‌تاکی‌یعنی (۳۰۰یا۴۰۰ ) هجری هغه زمانه ده چه ددې هیواد ټول نومونه ، اسلامی نښی لری ...

داحدس که‌څه‌هم دپښتنو له عنعنی سره دزمان له کبله سر نخوری، خودانسانی ډپرښت دعلمی فورمول په قرار چه هری پیړی ته دری کسه اودری تنه پرله‌پسی تاکل شوی‌دی، دعلم نژاد پرځلیو مطابق برښنی، ځکه له‌هغو دریو ورونو ( بیټنی غرغښت، سړ بن» څخه پدی ۱۰، ۱۱ پیړیو کښې دونه اولاده لکه اوسنی پښتانه چه‌له(۱۲ تر ۱۵)ملیونو نفوسو ګڼل شویدی دپوهنی له‌ډډی څخه ښه‌نه منل کېږی،مګردخدای پاك دتخلیق فوق‌العاده قدرت له هرڅه لوړدی ....

سلیمان ماکو وائی چه شیخ بیټنی یابیټ بابالوی بزرګ ؤ، دکسی په‌غره باندی اوسیده، اوداءمناجات‌به‌ئی دشپی له‌مخی په خورا، زاری‌سره وایه :

لویه خدایه لویه خدایه ستاپه مینه هر ، هر ځایه
غرو لاړ دی درناوی‌ کښې ټوله ژوی په زاری‌ کښې
دلته دی د غرو لمنی زموږ کهږدی‌ دی‌پکښی پلنی
دا و ګړی ډډ کړی خدایه
لویه خدایه لو یه خدایه
دلته لږ ز موږ اور بل دی ووړ کور کی‌دی‌ووړ بورجل‌دی
مینه ستاکښی‌موږ میشته یو بل دچا په ملهه، تله نه‌یو
هسك اومخکه نغښته ستا ده د مړ و و د ه له تا ده
دا پا لنه ستا ده خدایه
لویه خدایه لویه خدایه

دبیټ، نیکه داسندره خورا اغیزه ناکه او دقدرت جلال په‌ساده ټول څرګندوی دپښتو ساده‌وزن، سپیڅلی روح پکښی ځلیږی، دپښتو لر غونی سوچه لغات لکه ژوی (حیوان) هسك «اسمان و ګړی = عوام ، نغښته = ټوله، چه پدی سندره کښی یادشوی اوس ئی ځینی په‌هغو معنا ؤ باندی‌ندی مستعمل لکه ژوی د حیوان یامخلوق په‌معنا، هسك‌چه‌ده داسمان په‌ځای استعمال کړی اوس هرلوړځای هسك بلل کېږی » دبیټ نیکه دسندری مضمون دپښتوانو اریائیانو (مساجاتو ) ته ورته دی

ځکه په‌ریګویدا کی‌هم‌دخدای پاک‌دمحبت مینه، دده دسپیځلتوب اواختیار، اودکورنیو، اواولاد، ډېروالی منا جات وزمه اشعار راغلی دی، د بېټ بابا دمرګ نېټه اومزار نه‌دی معلوم، مګر هغسی چه‌دپښتودادبیاتو په‌دوهم ټوک کی لیکل شوی دی : دننګرهار په تورغره کښی دبېټ په‌نامه یوزیارت شته، نولری نه‌ده چه د هغه مشهور بېټ بابازیارت به‌همدغه وی ...

اسمعیل سړبنی : لکه موچه‌وویل اسمعیل په‌اصل کی بېټ زوی‌دی مګر هرکله چه دخپل تره سړبن‌په کور کی اوی شویو، نوپه سړ بنی سره مشهور شویدی، اسمعیل دخپل‌پلار په‌ځېریو لوی بزرګ ستانه اودپښتو ژبی‌پوخ ادیب ؤ، داسمعیل یوشعر سلیمان ماکو پخپله پاتی تذکره کښې را وریدی یوه نساده ئی په«پټه خزانه» کښې ، راغلی چه‌دخپل تره‌دزوی (خرښبون) دبېلتون پ‌غم کښې‌ئی‌ویایده یوشو بیته‌ئی دادی :

که‌یون دی یون دی مخ کی بېلتون دی
له‌کسی غره څخه ځی خر ښبون دی

که ور وره ور وره خر ښبون ور وره
ته چه بېلتون کړی زما ویرته ګوره
دخدای دپاره ، خر ښبون یاره
چه هېر مونکړی ز موږ کهول واړه
زړه می رپېږی یار می بېلیږی
بېلتون ئی اوردی ځان پری سو ځېږی

خرښبون : دسړ بن زوی‌دی ، پټه خزانه ، د پخوا نو آثارو پحواله لیکی چه‌دی په (٤١١ه) په‌مرغه کښې و فات شوی بیادخرښبون اولاده‌چه‌دهغه ددریو زامنو (کاسی - کند - زمند) اولاد ؤ، ځوك دکسی غره ته‌اوځوك دپښین، او ننګرهار لتوته ولېږ دیدل خوخبره‌دلته‌ده چه‌خرښبون هم دپښتو ژبی‌یوشاعرؤ، اوخورا زاهد، عارف سړی هم ؤ، کوم‌وخت چه دخپل تره‌زوی اسمعیل څخه را روانېده اودکسی له‌غره څخه د هوتکو غوږی مرغې ته راتلو ، نوداسمعیل د شعر ځواب ئی په‌یوه خوږه (ځلوریځه) کښې داسی ویلی اودده ځلو ریځه په ( پټه خزانه) کښې محفوظ ده چه‌له هغی څخه یوه ځلوریځه لاندی دنمو نی په‌ډول لیکو :

بېلتانه ناره می وشوه په‌کور باندی
نه پوهېږم چه به څه‌ری مخ‌په‌وړاندی
له خپلوانو به‌بېلېږم په سرو ستر ګو
دواړه ستر ګی‌می په وینودی ژړاندی

لکه چه برموویل داشعر هم د پښتو خالص اوساده حسی شعردی ، وزن ئی‌هم‌بشپړ ملی اودعربی ژبی یولفظ‌هم‌نه‌لری‌هم پدغو اشعارو کښې دزړو آریائیانو دیو له‌بله خپلوی- جذبات ښکاری، موږ ته دا رابنئی چه‌دوی یولهبله سره مینه اومحبت درلود، اودیوبل له بېلتون څخه خورا خواشینی کېدل، فامیلی جنبه، ئی خورا غښتلی ده ، چه‌عاطفه، دخپلوی احسا سات په هغوی کښې خورا ژو ندی ایدل کېږی .

شیخ‌اسعد : داسترشاعر دمحمد سوری‌زوی‌دی، شیخ‌اسعدپه (٤١٥ه)کال دزمین‌داورپه‌ښنین کی وفات‌شویدی‌شیخ اسعد دامیر محمدسوری‌تولواك‌معاصرؤ ، او دهغه پاچاپدربار کی ددراناوی اونفوذ سړی ؤ، دپټی خزانی په لیکنه چه له شیخ کټه څخه روایت کاشیخ اسعد دپښتو ژبی یوزبر دست ، پیاوړی ادیبؤ ، اوپاخه اشعارئی‌ویل، نوموړی‌دامیرمحمد سوری په‌وفات باندی چه دغزنوی سلطان محمود په‌بندکی ئی پخپله په زهرو ځان ووژله یوه سوزنا کـه مرثیه ویلیده ، دا دشیخ اسعد مر ثیه په‌پښتو کی ساری نه‌لری لدې قصیدی څخه‌یوه‌ټوټه د لته اقتباس شوه :

دفلك له چارو څه وکړم کوکار
زمولوی‌هر ګل چه خاندی په بهار
هرغټول چه په بید یاغوږ یده وکا
ریژوی ئی پانی کاندی تارپه‌تار
ډېر مخونه دفلك څېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لا ندی زار
دواکمن له سره خول‌پرېباسی مړ شی
دبې وزلووینی‌توی کاندی خونخوار
څه‌تېری څه ظلم کاندی ای فلکه
ستاله لاسه نه‌دی هیڅ ګل بې له‌خار
ستاله‌لاسه دی‌پراته ژوبل زګړوی کا
هرپلوته تېی زړو نه پـه ځار ځار
کله غور ځوی واکمن له پلا زونو
کله کښینوی په خاورو کښې بادار
زموږ‌پرزړونودې‌نن بیایوغشی‌و ویشت
و دی ژو بلل پدی غشی هزار
په سوریو باندی ویر پرېووت له‌پاسه
محمد واکمن څه ولاړه په بل دار
پدې ویر دغور و ګړی‌تور نمری‌شول
په دی ویر رونیا تیاره شوله دښار
لاس دمات شه ای فلکه چه دی وکا
محمد غو ندی زمری دمړینی ښکار
شین زړګی فلکه ولی لاو لاړې
ای دغور ، غرو نو پرخه نشوی غبار
مخکی ولی په ر پښ دلونه پرېوزی
لا ندی باندی شه‌چه‌ورك‌شی دااشعار

چه زمری غوندی واکمن ځی له‌جهانه
نورځوك نکړی په‌نړۍ باندی قرار
سخ په تاای محمده !دغـور لمـر وې
په نړۍ به نوی ستـا د عـدل سـار
ته په ننګه وې ولاړ په‌ننګه مړ شوی
هم پر ننګه دی پر ننګه کا ځان ځـار
که‌سوری‌دی په‌تګ‌ویرکاندی‌ویرمن‌شول
هم به ویاړی ستا په نوم ستـاپه تبار
په جنت کښې‌دی وه تون ز موږ واکمنه
هم په تـادی وی ډ بـر لـور د غفـار

په پښتو کښې چه لومړۍ بلیغه قصیده تراوسه زموږلاسته راغلیده همدغه‌دشیخ اسعد مرثیه‌ده چه‌لکه نن ورځ دامیرمحمد سوری‌دمړینې ویر، هم‌مجسم دسړی ستر گوته دروی ، داقصیده دپښتو دپخوانی (سبك) له‌پخوا، اولوړو، ادبی نمونو څخه یوه نمونه ده،هغسی هم دپښتو سوچه‌لغات پدې شعر کښې راغلی‌لکه: کوکار = واویلا، زمولوی= مړاویکوی ، غټول = دصحرا لاله، واکمن = پاچا، تورنمری = سیاه‌پوش،پلاز = تخت، ژوبلل = تپی کول، تون = ځای، لور = رحم عفو .

شیخ تیمن بړیځ : دشیخ تیمن له‌نامه سره بړیځ مل دی او بړیځی په‌قندهار کی‌یوه کوچنۍ‌طائفه‌ده چه‌ځان‌په‌پوښلزو کښوی خو‌پته خزانه‌دشیخ‌بستان‌بړیځی د(بستان‌الاولیا) په‌استناد لیکی چه تیمن د غور په کجـو ران کښې اوسیده او بیـا دسلطان علاوالدین حسین په‌زمانه کښې (۵۰۰ - ۵۵۰ه) وفات شویدی داهم وائی چه‌دی کاکړ وۍ ، دده‌به‌نامه په‌غور کښې یوه‌طائفه هم شته چه تایمنی‌ئی بولی که‌څه‌هم تایمنی د۴ ایماغو په ملی تشکیل کښې ورګډ‌دی امادوی اوس‌هم ځان کاکړ بولی نیائی داطائفه دهغه تائمن له‌اولادی څخه یوسړی وی چه د کاکړ بابا زوی وۍ، شوك پخپله دی دکاکړ بابا زوی گـڼی خودا خـورا لری ده ځکه داتیمنی دغوردی او ورو سته په ډیره موده لـه کاکړ بابا‌تېر شویدی، دشیخ تیمن دالاندی شعر په «پټه‌خزانه» کښې‌ضبط شویدی :

| | |
|---|---|
| ګـهیځ رنیادنمر خپره شوه | زماپه کور دویر نا ره شوه |
| | ژغ سوناڅاپه‌چه بهلتون راغی |
| زړه می له‌دی‌ویرنی شین‌دی | په ژړا ژاړم څه ناور ین دی |
| | په نول‌نولېزم چه‌تاخون راغی |
| نه به بیایم نه به بیـارا شی | نه‌به تیاره شپه زما ر نا شی |
| | بهلېزی‌پارئی اوس دیون‌راغی |
| دخښتن پارده هېر می نکړی | اغلیه مخ چه په یا نه ګړی |
| | پر مادبل او ر کړون راغیء |
| دبهلتون ورځ توره‌تیاره شوه | |
| زرغون له‌اوښومی سادین دی | |
| نه به شهـر را ته پخـلا شی | |
| اوربل دی پرښودواته کړی | |

په‌دې څلورېځه کښې‌دپښتو پخوانی لغات استعمال شوی‌دی دمالی وزن لرونکی او خورا یوه پخه عشقی سندره ده لغات : ناورین = طوفان، سادین = ګړیوان، نول = غم ، تاخون ذوب‌شدن، شهـر = معشوقه،پار = نوبت‌اغلی = ښایسته زیبا .

تایمنی : د غوریانو د دربار یوښه پیاوړی ملی شـا عردی دی د سلطان غیاث الـدیـن غوری پـه مـدح کښې یـو شـعر لری ، دده له قصـیدې څخه څرګـنـد یـږی چه‌دی دسلطان غیاث‌الدین په‌زمانه (۵۶۰ه) کښې ژوندی وۍ، دالاندی مثنوی پهل روانه پخه سندره دده له ما ثورو اثـارو څخه لاسته راغلیده :

نن زه غږېږم په صفت دسلطان
چه‌دی بادار غـازی، ملك د جهان
دفیروزکوه اوغور رنیـا له ده ده
هم دتهرو تو رو بر ښینا لـه ده ده
چه‌توره وکاږی چې تون کی خالی
غلیم ئی کله کړی په توره سیالی
غیاث‌الدین دغور زمری عـا لیشـان
داسلام دین دده په توره ر و ښـان

☆ ☆ ☆

داشعرلکه چه‌څرګـندی‌دی‌له‌پخوانواشعارو څخه‌یوساده بی‌تـکلفه اوپخوانی لغات هم لکه چې تون = تهکی،پکښی را اغلیدی .

ښکارندوی : ښکارندوی د غوریانو د دوري خورا پیاوړی شـاعر اوادیـب دی دشـهاب الـدین سـلطان په‌دوره کـښې (۵۸۰ه) دغور په‌دربار کښې یو مخور او خورا ستر شـاعر او دپښتو به‌قصیده کښې پیاوړی استادی ، د اسی څرګـند یږی لـکه دغزنوی دوری دشاعرۍ مهم عنصر چه د پاړسو په ادب کښې قصیده وه، دسوریانو، اوغوریانو په‌زمانه کښې چه لاهغه لومړۍ سبك روان وۍ، دپښتو دشاعرۍ ستر عنصر هم قصیده لیدله کښې اوددې دوری شاعرانو دزمان او مکان په رعایت خپل دبیان اوشاعرۍ کمال په قصیده کښې څرګـند کړی‌دی غزل لاپدې دوره کښې لږ لیدل کېږی، که وی هم د قصیدې په اندازه پوخ اوبشپړ تکامل ته ندی رسیدلی خو هغه وخت چه قصیدې د مغلو په دوره کښې د زمانی د تقاضا په رعایت له‌اعتبار څخه و غورزیدی نو د پښتو غزل هم ترقی پیداکړه. ددې خبرې مصداق به دپښتو په دوورا‌تلونکو ادبی دورو کښې پـه محسوس ډول و وینو ،

په‌هرحال ، د ښکار ندوی دپلار نوم احمددی ، چه د فیرز کوه کوتوال ؤ، د سوری تاریخ لیکوال محمد بن‌علی ویلیدی چه ما په بست کی د ښکارندوی دقصیدو یو دیوان لید لیدی وائی چه ښکارندوی له‌سلطان شهاب‌الدین سره دهند په غزا کانو کښې ملګری ؤ، په یته خزانه کښې دده یوه خو را زور وره قصیده ساتل شوی چه د پښتو ادب دویاړ او افتخار نمونه ګڼله کیږی ددغی قصیدی یوه لنډه برخه دلته اقتباس شوه :

د پسرلی ښکلونکی بیا کړی سینکارونه
بیائی ولونل په غرو نو کښې لالونه
مخکه شنه لا ښونه شنه، لمنی شنی شوی
طیلسان زمرد ی وا غو سته غرو نه
دغټولو جنډې خاندی ور یدی ته
زرغونو بنو کښې ناڅی زلمی جونه
لکه ناوی چه سور تیك په تندې و کا
هسی وګانډل غټو لو سره پسو لو نه
هر پلو رنی والی بهاندی خا ندی
له خوښیه سرو هی په سنګړو نه
هر پلو د ګلو وزم د ی لو نلی
ته وا را غل له‌ختنه کار وا نو نه
ونه باسی
لکه شنو ها نی سه ب ندی سند و نه

خو هرکله چه دقصیدې مخلص ته راڅی خپله دبیان مجرا پداسی حکیمانه اوشاعرانه ګریز دممدوح‌ومدحی‌ته‌را ګرزوی :

نه به چو نې په ستا یه د ګلو موړ شی
نه به مو ړ شم د سلطا ن په صفتو نه
د شنسب د کها له خټلی لمر د ی
د پسر لی په دود و دان له ده ز غو نه
چه زا بل چه د بر ی په نیلی سپو ر شی
پر لاهور ئی د مهر انی ګذار و نه
ته به ده غوندی‌روښ ستوری په هسك ځلی
که څه پو رته شی له غوره ډیر مړ و نه
یو خا وند شهاب الدین دی چه ئی وکا
په هر لو ری ، هر هیواد ته یر غلو نه
چه جوپو جوپو جګړن ئی هند ته یون‌کا
چه دغور بادار همت‌وکا زغلونه
په هر کال اټك د ده ښه را غلی کاندی
غو ړوی پر څنډو خپل پا سته سا لو نه
پښتونخوا ښکلی زلمی چه زغلی هند ته
نو ا غلی پېغلی کا ندی ا تڼو نه

په رونړا او سی ته تل د دین شهاب به
نوم دی تل‌وه پردیږ په نمزد کو نه
ستا په زړمه دی خاونده لوی څښتن وی
موږ خوستا په مرسته یونه، څو چه یونه

داقصیده ټوله په یته خزانه کښې (۴۵) بیته‌ضبط شوی ،او خو را زاړه ویدی ، او ستانی لغات چه اصلا پښتو دی پکښې راغلیدی‌لکه لاښ = ستیغ ، پسول = ګانډه، جنډی = ګل سنګړونه = کانړی، شړ = مست،چونړی = عندلیب ، هیواد = وطن، جګړن = عسکر، سالونه = شګی، نمزدك = مسجد ، اسلا می معبد ....

ملك یارغرشین : غرشین دپښتنو یو مشهور ستا نه قوم دی نوملك یار لدې‌تبر څخه یوعارف سړی ؤ ، دپښتنو مور خینو داپوه دمتصو فینو او لیاؤ له‌جملی څخه ګڼلیدی .

غرشین سر بیره پردې دپښتو یو خ شاعر او ادیب هم ؤ ، سلیمان ماکو لیکی چه غازی سلطان شهاب الد ین غوری چه پر کفر یرغل‌کاوه نو ملك ار ورسره ؤ ،نل‌کاچه په‌یوه جنګ کښې مسلمانان پرشا ولاړ نوملکیار ، راغی یرغل‌ئی‌وکړ، او په‌جنګ کښې ئی‌داورو ستە کی ( اشعار) وویل نوغازیان وپار ډل ډپردښمنان ئی‌ووژل حه ئی‌وکړه .

څښتن مومل دی ـ اوس مویرغل دی ـ هیواددبل دی
غازیانو گوری‌ء ـ څښتن‌مومل‌دی
توری‌تپری کړی‌ء ـ دښمن موپرېکړی‌ء ـ منګولی‌سری کړی‌ء
څه له به تښتو ـ څښتن مومل دی

که ټینګ کړو زړونه ـ پر ... نه ـ چه ز مری یو نه
اسلام ر اخځه دی ـ څښ ... مل دی

غا زیا نو راشی ـ ټول شاو خوا شی ـ د شهاب په ملاشی
دښمن‌موغوښ کړی ـ څښتن مومل دی

دملکیار داحماسی سندره په‌ملی وزن یوساده ، روان شعر اوخورا جذاب هم‌دی داسندره دملی‌اشعار دعام‌فهمه الفاظ لری، اودتشویق او حماسی له قوت څخه ډك دی روش ئی له‌ملی‌روح سره موافق اوپه سخت حال کښې غازیانوته دخدای پاك مرسته اومذهبی جنبه د جګړی په یاد ورکوی ـ سلیمان ماکو وائی چه‌ملکیار به‌تل‌ترتله د شیخ اسمعیل ستر ستانه پاڼ کی ویل، دی‌دسلطان شهاب الدین معاصر اودهغه دملتان په لمړی یرغل کښې (۵۷۱ه) ژوندی‌ؤ ، ملکیار په دهلی کښې وفات اوهوری ښخ دی ، دده په شعر کی ( پاړکی) = شعر، نوی اوپخوانی لغت‌دی ،بل‌کمال ئی‌دادی ،چه لکه چه‌بی ارادی ئی پخپل‌پورته ملی‌سندره کښې د مماثلی د بدیعی صنعت رعایت کړی ، هغه‌هم دجګړی په بحرانی مهال کښې .

قطب الدین بختیار : دپلار نوم ئی احمددی ، بختیار دخپلی دورې مشهور عارف ؤ دی په کام بختیاردی چه دپښتنو ، اولوانې تبر یوستانه تبر ګنل کېږی ، سلیمان ماکو وائی چه دده نیکه (موسی) له بختیارانو څخه هند ته تللی او په سند کښی میشت شویؤ، قطب الدین په هند کښی د پرشهرت درلودی، بیا په (۶۳۲-۶۶۳ه) کښی وفات او په دیلی کلنې ښخ شو ، چه تراوسه ئی زیارت مشهور دی ، سلیمان ماکو په تذکره کښی دده خوازه اشعار ، رانقل کړی دی اوداسی وائی : بختیار په پښتو سندری کړښه اوښی تو یو یه ، خدای ته ناری کړی ، غلبلی کړی ، پارکی لرینه چه یوئی دادی :

ویرمی زړه سوری کړ ، راته و ګوره ملو کی
په ښلتون کښې دی وباسم ، له خوزمنه زړګی کوکی
راته و ګوره ملو کی
دښلتون اورونه بل دی ، هر ګړی می زړګی سوځی
لیو نی یمه دمینی ، سو ځم زه اسکه پیلو ځی
راته و ګوره ملو کی
غوړولی دی اور بل دی ، اور زما په زړګی بل دی
زه بختیار خاوری ایرې شوم، په اور سوی می کو ګل دی
راته و ګوره ملو کی

پدی سندره کښی هم د پخوانو اشعارو بی تکلفی ، روانی او سپېڅلتوب او ملی روش پروت دی ، داشعر دکسرخاوند او دسپرو بدلو په ډلو کښی حسابېږی ، هرکله چه دعشق له جذباتو څخه حکایت کوی نوسره لدې سادګی له سوز او ګدازه ډک یوشعر دی .

شیخ متی : دشیخ عباس زوی دی چه په پنځه پېړی (پشته) خرښبون بابا ته ور سی ، دی په (۶۲۳ه) کښی زېږېدلی او بیا په (۶۸۸ه) کښی د(۶۵) کالو په عمر وفات شوی ،اود (کلات) پرغوندی ښخ دی، شیخ متی چه په (کلات) بابا مشهور شوی یولوی عارف،متقی، عالم اوادیب سړی تېرشویدی، دهدخدای په مینه کی ډېراشعار او مناجاتونه ویلی دی ، دده کورنی یوه علمی اوادبی کورنی وه ،د شاعران او لیکوال پکښی تیرشویدی ، لکه شیخ کټه ، شیخ قاسم او نور ، دشیخ متی او لاده بیا دپښور بدنی ته ولاړه اوهلته میشته شوله ، دهیو کتاب درلود چه د(خدای مینه) ئی نوم و ، داکتاب ئی تر ډېره وخته پرمزار پروت ؤ، اوخلتو به وه مګرا س ورک دی ،محمدهوتک په خپل کتاب یټه خزانه کښی دده یوخورا لوړ الهامی شعررا نقل کړی دی ، چه دهغه شعر څوبنده لاندی اقتباس شوو :

خاونده ښکلی ستا جمال دی ☆ ښکاره ئی لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه، که پېړی کال دی ☆ ستا دة رت کمکی مثال دی
ستا دنو رونو یوه ر نا ده ☆ دلته چه جوړه تما شاده
پرلویوغرو هم په دښتو کښې ☆ په لوی سهار، په نیموشیو کښی
پر غاړه زغ او شپېلکو کښی ☆ یادوبر ژلو په شپېلو کښی
ټول ستا دیادناری سورپدی
دا ستا دمینی نندارې دی
دلته لوی غرونو زر غونېږی ☆ د ژوندوزمی پکښی چلېږی
بوراوی شا وخوا کړېږی ☆ سترګی لیدوته ئی هېڅېږی
لویه خاونده ټوله ، ته ئی
تل دنړی په ښکلېده ئی

دشیخ متی داپخه صوفیانه سندره خورا خوږه او اوږده اوله مضمون څخه ئی شرګندېږی چه دی شهو دی وجودی متصوف دی ځکه هرکله چه دموجوداتو په وجود قائل دی شهودی، او،دلته چه وایوائی : «لویه خاونده ټوله ته ئی» نود وحدت الوجودی مقام ته اشاره کوی اوعین پدغودوو تصوفی مقولوسره شهودیان اووجودیان سره ستایل شویدی لکه: «همه ازو است » اویا : «همه اواست» نوشیخ دواړې ممیزی لری .

باباهوتک: د(بارو) زوی دی چه په (۶۶۱ه) کښی زېږېدلی اوپه (۷۴۰ه) کښی وفات شویدی دده یوه حماسی سندره چه دمغلو په جګړو کښی ئی دلوانانو دتشجیع او زړورتیا ښندلو لپاره ویلیده دپټی خزانی ، په کتاب کښی راغلیده .

بابا هوتک پدی سندره کښی دپښتنو دغیرت او توری ،ملی جوش ،اودمړانی اونارینتوب صریح احساسات د هیواد دساتنی محبت خورا ښه څرګندکړی ، اودا دپښتو په ادب کښی لو مړی شعردی چه دچنګیزیانو دمخالفت روح پکښی لېدل کېږی سندره لاندی ولیکله شوه :

په سور غره بل راته نن اور دې
وګړیه! جوړ راته پیغور دی
پرکلی او کور باندی مغل راغی
هم پر غزنی هم پر کابل راغی
☆ ☆ ☆
غښتلیو ! ننګ کړی دامو واردی
مغل را غلی په تلوار دی
په پښتونخوا کی ئی نا تار دی
پرکلی او کور باندی مغل راغی
☆ ☆ ☆
آدمر غی غښتلیو را شی (۱)
پر ننګ ولاړ دپښتونخوا شیء
توری تېری غشی تر ملا شیء
پر کلی کور باندی مغل راغیء

۱- مرغه دارغستان دناوی اوژوب په منځ کښی دهوتکو دسوری په علاقه کښی یوه قصبه ده .

زلمو په غشو کړې وا رو نه
دتېرو تو رو ګډ ا رونه
ور وړاندې کړې خپل ټپرو نه
پرکلی کور باندې مغل راغې
☆ ☆ ☆
پښتنو هلی پر غره جنګ دی
سور غر په وینو ددوی رنګ دی
مهال دتو ری دی د ننګ دی
پرکلی کور باندې مغل راغې
☆ ☆ ☆

شیخ‌ملکیار: دهوتک بابا مشرزوی اودپښتو یوملی شاعردی چه‌د(۷۴۹ه) په‌شاؤخوا کښی ژوندیؤ ، ترپلارووروسته ئی دکام دمشرتابه‌پګړی پرسر کړه،ده هم‌له‌مغلو سره کلك جنګو نه کړیدی، اوپه(پټه‌خزانه) کښی‌دملکیار بابا یوه عشقی سندره ثبت‌شویده‌چه د(ترنك) رودته‌خطاب کاندی اود عشق له اوره ډك یوآزادملی شعرئی ویلیدی، پدې‌شعر کښی ځینی‌زاړه لغات لکه‌نیز = سیلاب ، نمځنه احترام، ستاینه ،سوده سوړوالی‌لکه چه‌ویلیدی :

ترنك بهیزې غاړې تر غاړې
زمازړګې خو خپل لالی غواړې
که رووه ، رووه ،دترنك رووه!
خاوندی‌وچ کاچه‌زړګی‌مومی‌زماخپله‌سوده
که‌نیزدی‌نیزدی ، نیز دبهلتون دی
زړه نیز وړلی ،په‌ویرژړلی،په‌غم زبون‌دی
که‌اوردی اوردی په‌زړه‌می اوردی
دااورپه‌وچ کادویرنیزونه بلډپرپه‌زوردی
لمنځنه‌یوسه سپینی سپوزمیه ، ورته ووایه
چه ترنك ټال کړم ستاله خولګیه

پدی ملی شعر کښی بابا ملکیار خپل پیغام دسپوزمی په‌ذریعه یارته ورلیږی، اوداسی ملی‌لنډی هم په‌پښتو کښی‌ډیری دی چه‌دلمر اوسپوزمی په‌لاس‌خپل محبوب‌ته سلامونه استوی . دشیخ‌ملکیار دقبرځای په یقینی ډول معلوم نه‌دی مګر په خوګیانو کښی د سپین غره څخه د را وتلی خوږې‌خوله کښی د ملك فقیر دکلی سره نژدی یو پخوا نی زیارت دی‌چه دخواجه ملکیارپه‌نامه مشهوردی ، نو احتمال لری چه هغه تاریخی ملکیار بابابه‌وی .

اکبر : اکبر دزمین داور او سپدونکیؤ، زمین داور دغوریانو ، اوغز نو یانو په د ورو کښی یو مشهو ر ودان، ښار تیر شویدی ، دتاریخ په حواله دې قصبی (۳۶۰) آباد کار،زونه در لو ده ، داکبر د اشعارو دیوان څخه‌چه ورك‌دی‌یوځوپانیی‌دپشت‌رود، د هلمندپه‌غاړوپیدا شویدی ،دی‌په یوه بیت کښی دتیمور کورګان د چپاؤ زمانه داسی یادوی :

دمغلو تیمور هسی په اور وسوم
چه په هېر پەدې ماتم زمین دا ور کړم

لدی بیته‌څخه څرګندیږی چه‌اکبر د تیمور په وخت کښی (۷۷۱ - ۸۰۷ه) ژوندیؤ چه مغلوظلمونه‌اوچپاونه‌ئی لیدلیدی داکبرله‌یوځو اشعارو څخه معلومیږی‌چه‌دی‌دپښتوژبی‌یوپیاوړی اوخوږ ژبی ویونکی ؤ ، دده د غزل نمونه لاندی‌وګوری :

دخپل‌ځان‌له‌حیرانیږ به‌څه ویل کړم
دعشق ویر به تل‌پخپله پټول کړم
مامدام‌لکه‌بورا په کلوګشت کړ
اوس‌به‌ځم په‌سرتورسرفراق دګل کړم
دغماز لړمون به‌زه په لمبه کښیږدم
ځنی‌هېر به‌دیار بزم‌ګل اومل کړم
زمادیاردمینی‌اورپه‌زړه کښی بل‌دی
زه‌به‌سراومال ښندم ، دید به‌حاصل کړم
دبهلتون له ویره ژاړم ، اوښکی وینی
زه «اکبر» په خپل آشنادسرښندم کړم

سلطان بهلول لودی : داپښتون هو لواك د ملك کالا زوی اود پښتنو یو خو را غښتلی و ا کمن‌ؤ ، دده‌مو ر پداسی حال چه ملك کالا په عسکری خدمت‌تللی ؤ دبرساة په موسم کښی تر خونی لاندی شوه ، خو چی راوئی ایسته تر مړ ینی پخوا پهلو ل تر پ و زپږ یدی ، داهلك خدای لوی کړ اودخدائی تائید اوشخصی استعداد په و سیله دهند سترټولواك شو، ده (۳۸) کاله پرارت هند امپرا طوری چلولی، بهلول له‌افغانستان څخه‌پښتانه دعسکری خد مت لیاره هندته ورووبهول او دکام په مټ ئی ټول هندونیو ، بهلول په(۸۹۴ه)کال وفات شو، دپارسی‌ژبی‌یوه شاعر دده دمرګ تاریخ‌داسی کښلی:به‌هشتصدو نودو چارفت‌ازعالم ☆ خدیو ملك ستان وجهانګشا «بهلول». سلطان بهلول دلودی کورنی لومړی سترټولواك دی چه‌وروسته دشیخ حمیدلودی‌له‌پخوانیږ سلسلی‌څخه پرتخت کښیناست دی په‌علم اوادب کښی‌هم‌دستاینی ورمېړه‌دی ، بهلول دخایل خان نیازی په ځواب کښی یوه پخه رباعی ویلیده چه‌له «پټی خزانی» څخه مولاندی اقتباس کړه :

ملك به‌زرغون کړم‌په‌ور کړه‌راسه گوره اوریځی دداد له‌پاسه
خول می د عدل په‌درو رونږدی جهان به‌،زیب‌مومی‌زماله‌لاسه

خایل‌خان نیازی : د سلطان بهلول معاصر اودهغه ددربار شاعرؤ، داوروسته‌ځلور یځه (رباعی)، ددەده چه‌دبرسات په‌موسم ئی‌دسلطان بهلول‌لودی په‌حضور ویلیده :

خړی اوریځی ژا ړی له پاسه کویله(۱) زغ کا بیلتون له لاسه
یه، هغه لونی گوهر په خول ستا دامرحبا که، ستازموزمواسه(۲)

شیخ محمد صالح : شیخ محمد صالح الکوزی دخپل عصر بوستر عالم اوزاهد سړی ؤ ،دی د کلات په جلدك کښی اوسیده او په تبر الکوزی ؤ ، تدریس ئی شغل ؤ، اود (۹۰۰ه) په حدودو کښی ئی ژوند کړی دی دده دوې غزلی په پته خزانه کښی راغلی چه یوه ئی داده :

چه په زړه ئی غشی څرخ شی دچشمانو
روغ به نشی په دارو ، دطبیبانو
چه نور تن له رنځه خلاص په زړه رنځوروی
دا دزړه دارو جوړ نه کړه حکیمانو
مګر الله چه حبیب دی هم طبیب دی
کار سازی کا د خوا رانو رنځورانو
هیڅ اثر را باندی نه کاندی عالمه
نبه ویل درو ګوهر د ناصحانو
نصیحت زړه غواړی نه زړه نشته په کو ګل کښی
زړه می وړی په مشګلو خو برویانو
که صالح غوندی دز ړه په وینو پائی
نور دولت په دنیا نشته طالبانو

زرغون خان : دی په کام نورزی ، اود زمین داور ، دنوزاد دقصبی اوسیدونکی ؤ په ۹۹۱ه کال هرات ته ولاړ، اودهغه وخت په ملی جنګونو کښی ئی نبه مېړانه بنکاره کړه دوست محمد کاکړ وائی چه په (۹۹۲ه) چه زه هرات ته تلم نو په (کجوران) کښی می له ملا ایوب تیمنی سره دزرغون خان دغزلو دیوان ولیدچه پانې ئی په شمیر دری سوه وی ، اوده پقول چه زرغون خان په (۹۲۱ه) کال دقندهار په (دېراوځ) کښی وفات شویدی ، دده یوه خورا روانه او خوږه دوه ا یځه (مثنوی) چه ساقی نامه ئی بللی په «پته خزانه» کښی شته ،ددې ساقی نامی له مخی څرګندیږی چه نوموړی په پښتو ادب کښی استاذ ، او دلحانګړی شخصی سبك خاوند هم ؤ ، دده دساقی نامی یوخو بیته دنمونی په ډول لاندی راغلی:

ساقی پا څه پیاله را کړه مرور یار می پخلا کړه
او به توئی په لمبو کړه او رمی مړ په دې او بو کړه
پسرلی شو غنچه ګل زلفی تا وی دسنبل کا
بلبلان شو رو فغان کا کړبدن په ګلستان کا
په راغو کښی سری لمبی دی دغټولو ننداری ، دی
جهان ټول سور اوزرغون دی وچ راغه بنکلی ګلګون دی
بهار وخت د یا ر ا نی دی نبه موسم دپیما نی دی
نو ساقی پاڅه بها ر دی نن ژوندون سبا رفتار دی
مستان ګرزی په باغو کښی مستی کاندی په راغو کښی
لاس په لاس دی یارانې کا یو په بل نازو نخرې کا
تر تا وګر زمه راشه ساقی یوه ګړی پخلاشه
نوساقی پاڅه بهار دی بزم تاله ا مید وار دی
یاران ناست ستر ګی څلور دی
ستا دجام په ا مید نور دی

بابرخان : داشاعر ددوست محمد کاکړ پلار ؤ، دوست محمد کاکړ لیکلیدی چه زما پلار د «تذکره غرغښت» په نامه یو کتاب نظم کړی ؤ، مګر دپلار په مرګ کښې می زه نه وم ، چه راغلم دغه کتاب چاضائع کړی ؤ، نوزه دپلار دمرګ څخه د کتاب په ور کېدو ډېر غمجن شوم، که څه هم د بابرخان اشعار لاس ته نه دی راغلی، مګر ویلای شو، چه دی دپښتو یوزوړ ادیب او مورخ ؤ .

دوست محمد کاکړ : دبابرخان زوی او یو پښتون شاعر او مورخ ؤ، ده په (۹۲۹ه کال) په ژوب کښې د «غرغښت نامې» نومی کتاب په نظم ولیکه ، داکتاب ئی د خپل پلار، دتذکرهٔ غرغښت، په ډول لیکلی اودهغې خبری ئی پکښې را وړیدی، غرغښت نامه، یوادبی معتمد تاریخ ؤ، چه د (غرغښت) له حالاتو ماسوا، دنورو شاعرانو، او سړیو احوال ئی سره له اشعاروهم پکښې لیکلی ؤ، داکتاب محمد هوتك (دپټی خزانی ) مولف لیدلیدی او، وائی چه په مثنوی ئی ډېر خوازه بیتو نه لرل، او یوداسی کتاب ؤ، چه کو چنیانو به په سبق لوست دغرغښت نامی یوحکایت په پته خزانه کښې راغلیدی خو ډېیتونه ئی دادی .

له نیکا نو روا یت دی هسی تو ګه حکایت دی
نورمحمد کاکړ راوی دی چه ئی فیض تل جاری دی
د نیکو نو له خولی وائی چه منښت ئی راته ښائی
چه کاکړ نیکه زاهد ؤ لوی څښتن له تل عابد ؤ
تل ترتل بی عبادت کا پردی،لیار ئی ، ریاضت کا

## ددې دورې شاعرانی مېرمنی :

زرغونه : دملادین محمد کاکړ لوروه چه دقندهار په (پنجوائی) کښې اوسیده،عالمه او پوهه میرمن وه، دی خورابنه خط هم درلود چه مرغلری ئی شرمولی، زرغونی په (۹۰۲ ه) کښې دسعدی بوستان په پښتو نظم ترجمه کړیدی، نوپدې اعتبار دا د (۹۰۰ه) کلو، شاعره ګڼله کېږی ، وائی چه دی نور اشعار، اوغزلونه هم ویلی دی ، له «پټی خزانی» څخه ئی داوروسته نکل چه ددوه ایځی (مثنوی) په وزن دی دلته رانقل کړه وم :

او ر بد لی می قصه ده چه له شاتوهم خوزه ده
داختر په ورځ سهار بایز ید چه ؤ ر ویدار

۱ ـ دهند یوخوش اوازه مارغه دی ۲ـ محافظ

له حمامه را او تلی — په کوشه کښې تېرېدلی
ابری خاوری چاله بامه — را چپه کړ لی نا پامه
مخ او سر ئی شو ککړ — په اېرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښو شو — دخپل مخ په پاکېدو شو
چه زه وړ یم دبل اور — چه په اور کښې شم نسکور
له اېرو به څه بدو ړمه — یا به لږ شکوه کو مه
هوپو هانو لخان اېری کړ — له لوئی نه ئی لخان پرې کړ
شوك چه لخان ته گوری تل — خدای ته نشی کړی کتل
لوئی تل په گفتار نه ده — لو خبره په کار نه ده

تواضع به دی سرلوړ کا
تکبر به دی سر لخوړ کا

رابعه : داپښتنه میرمن د (۹۰۰ه) په حدو دو کښې په قندهار کی اوسېده وائی چه رابعه شاعره وه او داشعار وو، دیوان ئی درلود، داشعار یخه ئی له (پټی خزانی) څخه را اخلو :

آدم ئی مخکی وته راستون کا — په اوردغم ئی سوی لړمون کا
دوزخ ئی روغ کا په مخ دمخکی — نوم ئی دهغه دلته بهلتون کا

ددغی دورې پښتانه نشر لیکونکی او مورخین : هر گنده شوی ده چه پښتو ژبی له خورا پخوا څخه پیاوړی لیکوال او پاخه، پوه مور خین درلودل، مگر نن ورځ چه موږ گورو، دډېرو لږو کسانو حالات او نومونه موږته بنکاره او معلوم دی، نو ویلای شو چه دزیاترو پښتنو لیکوالو، اوتاریخ پوهانو، آثار اواحوالات دزمانی د پېښو په لړ کښې ورک شویدی، خو بیاهم هغه لږڅه چه رامعلوم دی، لاندی به ئی په لنډ دول یو :

سلیمان ماکو : دالیکوال د(۶۱۲ه) په شاوخوا کښې دپښتو یو پیاوړی لیکونکی او یو پلټونکی دی، دپلار نوم ئی بارك خان ؤ، په ماکوسابزی اودارغستان په والہ ئی هستو گنه درلوده دشعرئی موږته پته نه ده څرگنده چه آیاشاعر هم ؤ که په، مگر په نثر کښې یوخورا تاریخی او پوخ کتاب لیکلی چه «تذکرة الاولیائی نومدی» ددې کتاب موضوع لکه چه له نامه څخه ئی څرگندېږی دپښتنواولیا ؤ تذکره ده، ماکویو سیاح سړی ؤ، چه دپښتونخوا غرونه اور غونه ئی ټول سیاحت کړل، اودخپل مسافرت په دوره کښې دپښتنو پوهانو، شاعرانو حالات لخانته معلوم او بیائی دغه کتاب وکیښ، مگر لکه چه معلومه شویده دا کتاب بشپړ ندی پیداشوی، یوالی دسړیو خوپانې «دپښتانه شعرا» په مهم کتاب کښې راغلی دی، تړې فهمیږی هر کله چه دا کتاب دپښتو په نثر کښل شوی او تراوسه لا دپښتو پخوانی نثر گڼل کېږی، پخپل وار خورا خوږ، اوساده نثر دی، دده دپښتو نثر نمونه لاندی ولولی :

«وایم حمدو سپاس دلوی خداوند، اودرود پر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم، چه دی بادار دکونینو اورحمت دثقلینو، لوی لوی رحمتونه دی وی د هغه استا څخه په آل اویا رانو چه دواړه جهانه پردودی روښان، اومابعد زه غریب خاوری سلیمان لخوی دبارك خان ماکو سابزی چه په ویاله د ارغستان اوسېږم اوپه دی مخکو پایېږم په سن، دوولس شپږ سوه دهجری تللی وم اودپښتونخوا په راغو اوکلو گرځیدم اومراقد، داولیا او واصلینو می پلټل، اوپه هرلوری می کاملان منډل، او ددوی په خدمت خاکپای وم، اوهرکله په سلام ورته ولاړ، چه له دی سفره په کور کښې کښینستم، تهاکی می وچاودلی دپښو، بیا پا څېدولم اوله څښتن می مرستون شوم، چه احوال دهغو کاملانو وکاږم، اودوی چه هغه ویناوی پاتی کړی دی او پښتانه ئی لولی» نو په دی نثر کښې که څه هم د عربی جملواغېزه څرگنده، مگر په پخوانو نثرو کښې، بی گڼی او مرسل نثر گڼل کېږی، خودقدامت په وجه له اوسنی سبك څخه څه قدر لری دی .

محمد بن علی بستی : داسړی هم دپښتنو یو ارغونی مورخ دی، اماله بده مرغه ددې سترمېړه دتاریخ کتاب چه وروستو لیکوالو حوالی پرور کړی دی، تراوسه زمونږ لاس ته نه دی راغلی، دهوتك له تذکرې څخه څرگندېږی چه محمد بن علی بستی د(تاریخ سوری) په نامه دسوریانو دپاچاهی په حالاتو کښې یو کتاب لیکلی ؤ، دده دژوندوخت څه نه دی معلوم مگر دایقینی ده چه دشیخ کټه له زمانی څخه (۷۵۰ه) پخواتېر شوی دی، تاریخ سوری دسوریانو اوغوریانو دزمانی یو سیاسی او ادبی تاریخ دی، دامیر کرور شعر هم له دغه کتابه رانقل شوی، داصل تاریخ سوری، ژبه په جوت دود، معلوله نه ده خو هرکله چه خورا ډېر پخوانی اشعار له دغه کتابه را اخستل شوی دی نوغالباً به هغه کتاب هم په پښتو ژبه لیکل شوی ؤ .

احمد بن سعیداللودی : داسړی هم دپښتنو یو پخوانی مورخ گڼل شوی دی چه د ملتان دلودی پاچهانو، داحوالاتو په باره کښې په(۶۸۶ه)کال یو کتاب لیکلی دی چه (اعلام اللو زعی فی اخبار اللودی) نومېږی او دشیخ رضی لودی او امیر نصر اشعار له دی کتابه را اخستل شوی دی .

شیخ کټه : داسړی د پښتو یولایق مورخ گڼل شوی، او دشیخ یوسف زوی، دشیخ متی لمسی ؤ، شیخ کټه دخپلو پوهانو پلرو اونیکونو په څېر پوهاند اوعالم سړی تېرشویدی، چه دپښتو ادب په باره کښې دده سترخدمت دادی چه دپښتو شاعرانو پوهانو، اوتکړه خلقو په حالانو کښې د (لرغونی پښتانه) په نامه یو کتاب لیکلی دی .

داکتاب په پښتو ژبه ؤ، اوډېرقیمتی معلومات اواشعار ئی

درلودل، دشیخ کښته دژوندانه زمانه د(۵۷۰ه) په شاؤ خوا کښې انکل کېداشی ، که څه‌هم په پښور کی اوسېدو ، اما. یو گرزند، اوسیاح سړی‌ؤ، محمد هوتك‌وایی چه‌شیخ کټه په (بالشتان) کښی‌ده‌محمد بن‌علی (تاریخ سوری) لیدلی‌ؤ ، اوډېر قیمتی معلومات او اشعارئی ورڅخه را نقل کړی‌وو، ( لرغونی پښتانه) کتاب د(پټی خزانی) دلیکونکی محمد هوتك لاس ته ورغلی ؤ ، خواوس ئی‌موږ ته‌درك نه‌دی پښکاره او تر اوسه ئی درك نه لرو .

شیخ‌ملی : ددې‌لیکوال نوم (آدم) اود(ملی) زوی‌دی ، اما په‌شیخ‌ملی سره مشهورشوی‌دی‌چه دملك‌احمد له‌ملګرو څخه‌ؤ ، نوهرکله چه‌د(۸۰۰ه) کال‌په‌حدودو کی دپښتنو ځینی تپی‌د کسی له‌غره اونګیر هار څخه ، پښورته لږدېدلی دی ، نوشیخ ملی دپښتنو ستانه او مشهور مورخ ؤ ، ده‌دپښتنو په حالاتو باندی یو مهم کتاب لیکلی د ی‌چه نوم ئی « د شیخ ملی دفتر» ؤ او را و رتی انګلیس وائی چه شیخ ملی خپل د فتر په (۸۲۰ه) کال لیکلی دی ، اودا کتاب ما پیدا کړی دی ـ مګر د (شیخ کامګار ) کاکا صاحب دحالاتو له‌خطی کتاب څخه داسی څرګند ېږی، چه د شیخ ملی د زمانې موده له زرم هجری‌کال څخه راوروسته‌ده ځکه دی‌دکاکاصاحب له خلفاؤ څخه ښو دل شوی ، او کاکا صاحب د جها نګیر او شاه جهان دسلطنت په‌اوولکلو کښی لاژوندی‌ؤ، داهم‌احتمال‌لری‌چه‌داشیخ ملی دکاکاصاحب مریدؤ، بل‌کوم شیخ ملی نومی عارف‌وی ...

خوشغه مورخ اولیکوال شیخ ملی دملك احمد وزیرهم ؤ ، وائی‌چه مزارئی په پښور کښی‌دی نور حال‌ئی لاسته ندی راغلی.

کجو خان رانې زی : کجو خان تر شیخ ملی وروسته د پښتنو یو مشهور ، او تورپالی ، سردار هم ؤ ، دې مشر په (۹۰۰ه ) کال دپښتنو د حالاتو په‌شاؤ خواکښې یوتاریخ لیکلی ، چه‌هغه مستراورټی لید لیدې ، دکاجو کور اوس هم‌په (سوات) کښی شهرت لری ، اودالخای پخوا دخانې مرکز ؤ ، دکجوخان نورآثار او دژوندحال تردې نېټی پورې ز موږ لاس ته نه‌دی راغلی .

خان جهان لو دی : دا دپښتنو ستر او پوه مېړه د سلطان سکندرلودی په‌زمانه کښی (۸۹۳-۹۲۳ه)په‌حدودو کښې ژوندی او دسکندر لودی دوزیر په حیث ګڼل شوی دی ، خان جهان د «مرات الافغانیه» په نامه په پارسۍ ژبه د پښتنو پا چهانو ، مخصوصا دسکندر لودی ، پرحالاتو یوتاریخ لیکلی دی ، پدی کتاب کښی دهند حالات ، اوسیاسی کانی‌وانی هم ذکر شوی، غرض داچه‌خانجهان سربېره‌پردی چه‌لودیانو پښتنو یوسردارؤ، یوعالم ،لیکوال اوسیاستمدار سړی‌هم ګڼل کېږی ، نعمت الله نورزی دده‌وفات (۹۰۱ ه کال ) ښودلی دی:

## پښتو ، او رسمی‌سیاست :

ددې‌دوری پښتانه اوادب پالونکی پاچهان : د پښتو ادب دتېری دورې‌په‌بیان کښی موږته څرګنده شوه چه په دی دوره کښی ځینی پښتانه پاچا هان هم تېر شوی دی چه دوی دپښتو له ادب او شاعری سره مینه لرله ، او د پښتو شاعران اولیکوال ئی ښه‌روزلی اوپاللی‌دی ،په‌لاندې بیان کښی موږدهغوستروپاچاهانوخدمتونه‌دپښتودادب په‌چارو کښی ستایو:

دلرغونو سوریانو کورنیو : دتاریخ لیکوال راوړی چه له‌خورا پخوا زمانی څخه چه‌تاریخ ئی نشی‌تحدید کولای غور دغرو په‌درو کښی یوې سلسلی وړو اماپیاوړو پاچاهانو سلطنت کړیدی داپاچاهان د(سهاك‌یاساکا= سهاکا) له‌پښته‌وو ، سهاك دوه زامن در لودل چه یوئی(سور)اوبل‌ئی (سام) نومیده، نو دغور سوری پاچاهان چه‌سلسله‌ئی په هغسی غرنیو علاقه کښې شروع‌شویده همدوی ته منسوب دی ـ تر اسلام پخوا دغور له سوری‌پاچاهانو څخه دامیر بستام اوامیر شماخ سوری نومونه راغلیدی ، خو هغه‌مهال چه داسلام سپېڅلی دین د غورپه غرونو کښی نفوذپیاموند ،نودغورمحلی حکومت له‌اسلامی خلافت سره ښه‌مناسبات ونښلول ، ځینی مو رخین وائی دغور څخه لومړی پاچا چه پدې زمانه کښی داسلامی خلافت در بار ته ورغی او داسلام دین‌ئی ومانه ، ملك‌شنسب دخرنګ‌زوی‌ؤ ، داسی وائی چه‌ده‌حضرت‌علی (رض) په‌زمانه(۳۶-۴۰) اسلام راوړی دی ـ موږپخوا څرګنده کړه چه دسوریانو کورنیوچه یوئی سوری ماهوی دمروی والی ؤ او دعربو دلومړی دوری مور خینو ، د ماهوی سوری یادونه په تکرار سره کړ یده ، هم وائی چه ماهوی سوری دعلی (رض) حضور ته ورغی او حضرت ئی په خلافت ومانه ، داحادثه پخواولیکله‌شوه ....

نوښائی چه ملك شنسب هم دما هوی دکور نیو یو غوری پاچاؤ، اوترهولو پخوائی اسلام راوړی وی ، ځکه مورخین هم وائی چه‌علی (رض) دملك شنسب حکومت بیاهم پرغور باندې ومانه ، خو ترملك شنسب وروسته ، دده زوی امیرپولاد سوری پرغور اودغور په‌شاؤ خوا ځایو باندی پا چاهی درلوده ، امیر پولاد، دمشهور ابو مسلم خراسانی چه په(۱۳۷ه) کښی مړدی کلك ملګریؤ ، اوله ابومسلم سره ئی ډېری‌مرستی کړی دی . له‌ده‌څخه‌وروسته ،دامیر پولاد زوی امیر کروډ جهان پهلوان‌په ۱۳۹ه دغور په (مند یش ) کښی امیر شو ،ده دغور ،بالشتان، خیسار، او دتمران کلا ګانی ونیولی، ده په‌زمین داور کښی‌هم مانیې‌درلوده . په تاریخ سوری کښی راغلی‌دی چه دې کورنیو خوپېرې‌ـ په‌غور کښی پربالشتان اوبست هم حکمرانی درلوده،

اوترامیر کړو وروسته، دهغه‌زوی امیر ناصر پاچاشو ، چه‌غور زمین‌داور، اوبست‌ئی په‌لاس کښې‌ؤ ،ترامیر ناصر وروسته دامیر بنجی غوری ذکر راغلی‌دی چه‌هغه‌د خلیفه‌هارون‌الرشید په وخت کښې(۱۷۰-۱۹۰ه) یرغوربانډی حکومت کاؤ پس له‌امیر بنجی څخه دامیر یعقوب صفاری په دوره کښې ( ۲۵۳-۲۶۵ه ) دبنجی له‌اولادی څخه دامیر سوری نوم لیدل کیږی ،اوبیا د سوری له کهاله نه‌امیر محمد دغور په آهنګرانو کښې پاچاؤ ، دا امیر پس له‌خوسختوچګړوڅخه‌دسلطان محمودغزنوی (۳۸۷-۴۲۱ه ) دعسکرو په‌لاس بندی شو ، اوامیر محمد دحبس له عاره څخه غزنی‌ته دراوستلو په‌لاره کښې‌لحان وواژه، په‌دې پښه دمحمود په دوره‌کی دسوری کورنیو خپلواکی ولاړه او غور د غزنی تر اداري‌لاندی‌شو - خودبهرامشاه بن‌مسعود ثالث په ز مانه کښې (۵۱۰-۵۱۲ه) سلطان علاوالدین حسین غزنی لاندی کړ ، هم پدی‌وخت کښې دغزنویانو امپراتوری‌متزلزله، اودغوریانو نهضت بهرته نیوی‌شو، دامهال له‌دی کورنیو څخه بوې‌څانګی پرغوراو بلی‌ئی پر بامیانو، اودریمی ئی پرتخارستان باندی جلا جلا سلطنتونه درلودل نوشرګنده شوه چه د پخوانو سوریانو یوی دلی‌پاچاهانو داسلامی‌دورې له‌اوله (۴۰ه) دملك شنسب‌له‌زمانی څخه‌تر(۴۵۰ه) پوری‌داسلامی راشده، اموی اوعباسی خلفاؤ په پیژندنه پرغوربانډی دخپلواکوامیرانوپه‌ذریعه پاچهی کړی‌ده . اودوهمی‌دلی‌ئی له(۳۵۰ - ۵۰۰ه) پوری د غزنویانو ترحمایې لاندی حکومت درلود وروسته تراخری تاریخ ، د علاو الدین له خوا دغوریانو ستره امپراتوری شروع شوه‌چه د غزنویانو امپراتوری هم پدغه‌نوی پښتنی سلطنت کښې مدغمه شوی ده داخبره خورا جوته‌ده‌چه دایران مورخین له‌که دکتور محمود افشارچه لیکلی‌دی دغورسوریان اصیل‌پښتانه واکمن اودپښتو دادب پالونکی‌وو، لدې کورنیو څخه امیرکروسربیره‌پردې چه‌یو پیاوړی پښتون‌پاچاؤ، دپښتوژبی غښتلی شاعرهم‌دی‌چه‌دپښتو ادب سټه‌دده په‌اشعارو اپښودل‌شوی‌ده ، دوروسته‌سترو غوریانو په‌دوره کښې پښتانه شاعران له‌که ابومحمد هاشم ، شیخ اسعد پیداشوی‌دی، اوغوریانو روزلی‌دی، دهغوی دزمانې دپښتوآثار له‌که‌دابومحمدهاشم د(سالووزمه) اوتاریخ سوری چه په‌پښتو ژبه لیکل‌شوی‌ؤ، علمی کتابونه‌وو شیخ‌اسعد چه دامیر محمد دربار شاعراودهغه پاچاګران دوست‌هم‌وو، دامیرمحمدپه مرګ‌ئی‌خورا له‌غریبه‌ډله یوه مرثیه‌ویلی‌ده، نوپه‌تینګه ویلای شوچه سوریانو خپلی‌مورنی‌ژبی‌پښتوته پښه‌توجه‌درلوده .

دملتان‌لودیان : د لودیانویوی کورنیو له (۴۵۱ه ) څخه تر(۳۹۰ه)پوری پاچاهی کړی‌ده : څرګندپښ چه داکورنیو سلام په‌لو ړیو فتوحاتو کښې هند ته ورغلی دی اوهوری ئی نباروته فتحه کړی اوحکومت‌ئی جوړ کړی‌دی ددې ډلی لومړی پاچاشیخ حمیدلودی دی، تر حمید وروسته دهغه زوی امیر نصر پاچاشوی، اوبیا دنصرزری امیرابو الفتوح (داؤد) پاچا شوی مګردحمیددلمسی په زمانه کښې سلطان محمود پرملتان یرغل وکړ اوامیر داؤد ئی بندی غزنی ته راووست ، او امارت‌ئی وران کړ ، خو دحمید کورنیو لکه دشیخ رضی او امیر نصر لودی اشعار چه‌مویاد کړل دپښتودادب پاللو په چاره کښې ښه برخه‌اخستی‌ده، اوپاخه اشعار تري پاته دی .

غزنویان: دغزنویانودسلطنت موسس الپتګین‌دنوح سامانی نوکرچه دخراسان نائب‌الحکومه‌ؤ ، ګډل شوی ، تر الپتګین وروسته دهغه‌زوم ناصرالدین سبکتګین په‌غزنی کښې خپلواکی پاچاشو، سلطان‌محمود دسبکتګین زوی دخپل پلار پر تخت کښېناست اوله (۳۵۶- ۴۲۱ه) پوری ده دافغانستان ستره امپراتوری په آسیا کښې تشکیل کړه خو هرکله چه د محمود موردقندهار پښتنه‌میرمن وه، پدې‌اعتبارډپرپښتانه‌دده په لښکرو کښې‌داخل‌شول، اودهندسره اوسپین‌زر اوجواهرئی افغانستان ته راوبهول خوسلطان به‌هغه دولتونه د پارسو پرادب بښندل وائی چه دمحمود په دوره کښې دپښتو باقاعده لیکل (نثر) میدان ته راغی، پدی‌زمانه کښې قاضی سیف‌الله دپښتودلیك په اصلاح کښې زیار اېستلی دی، ده لخانګړیو آوازو لپاره لخانګړی توری تاکلی‌ؤ، قاضی خیر الله پښوری د (خیراللغات) په‌مقدمه کښې داپورته روایت تائید کړی دی دغزنی‌له (افغان‌ملی) څخه چه‌په زاړه کشك‌کښې دپښتو په‌ویاړ ودان شوی ؤ ، او بیهقی ئی ستاینه کړی‌ده څرګندپښی چه‌د سلطان محمود په زمانه کښې پښتانه ددرناوی خاوندان‌ؤ نورنودپښتو دادب په‌باره دغزنویانو په‌دوره کښې زیات معلومات لاس‌ته نه‌دی راغلی ، مګر داخبره جوته اوښائیدشوی‌ده چه د پښتنو معروف نیکونه شاعران له‌که اسمعیل خرښبون به‌دی‌زمانه کښې تېرشوی‌دی ...

غوریان: له‌که چه پخوا مووویل : دغزنو یانو دامپراتوری له‌سقوط څخه بعددپښتنو غوریانوبل نهضت مخ کښې روان شو سلطان‌علاوالدین حسین ددی کورنیو لومړی پاچادی چه دستری امپراتوری‌ببرغئی اوچت کښې ، ددغو غوریانو امپراطوری له‌علاوالدین‌څخه (۵۰۰ه) شروع او دسلطان شهاب الدین ستر غوری امپرا تور دشهادت په حادثه باندی (۶۰۲ه) کال پای‌ته ورسېده ترغازی سلطان شهاب الدین ورو ستې دده نوکر قطب‌الدین ایبك پاچاشو .. خوهغسی چه‌غزنویانو پارسی ژبه روزلی‌ده ، غوریانوپه‌غور، غزنی او هند کښې دپښتو ژبی شعر اوادب ته‌خورا ترقی ورکړی‌وه ، له غوریانو سره به‌سترستر پښتانه شاعران په غزاګانو کښې د غزنوی دورې دفرخی په کوکبه ملګری ؤ، اودپښتو حماسی سندری به ئی ژغولی

ښکارندوی، ملکیار غرشین، تایمنی او نورداسی پښتانه شاعران په همدی دوره کښی تپر شوی چه داشعارو نمونی موئی ولیکلی له دې ډلی څخه تایمنی د غیاث الدین د دربار شاعر ؤ ، اوښکارندوی غرشین، د شهاب الدین د حضور شاعران اوملګری ؤ ، یوبل تایمنی د علاوالدین په زمانه کښی ژوندکاؤ ، څرګند ښځی چه د محمد بن عیسی بستی (تاریخ سوری) هم د غوریانو په امراو مصرف په پښتوژبه لیکل شوی وی .

خلجیان: ترغوری شهاب الدین وروسته په هند کښی (۶۸۷-۷۲۱ه)

لومړی قطب الدین ایبک د شهاب الدین نوکر، بیاالتمش د قطب الدین نوکر د غوریانو په میراث په هند کښی سلطنت ته ورسېدل ، خو التمش له کورنۍ څخه وروسته د غیاث الدین بلبن کورنۍ په اقتدار شوه، او بیاچه ددغی کورنۍ دوستی ټولواك ( کیقباد) مړشو نو د پنجاب والی فیروزخان پرډیلی قبضه وکړه اودجلال الدین خلجی لقب ئی ځانته غوره کړ، داکورنۍ د پښت رود دبارکزو دناوی خلج نومی علاقی ته منسوبه ده چه له (۶۸۷-تر ۷۲۱ه) پورې ئی په هند کښی د سلطنت واګی په لاس کښی وو .

روایت کاچه د فیروزخان په دوره کښی هم د پښتو ژبی ادب ته پام لرنه شوی او د چا چه به پښتو زده وه هغه سړی به ده د حضور قدر در لود ، دومره څرګنده شوی ده چه فیروزخان به د پښتو قدرکاؤ، نوردهغه له درباری یا د هغی دوری له ملی شاعرانو څخه نورځه معلومات تر اوسه لاس ته ندی راغلی .

دهندستر لودیان: هغه مهال چه تیمور کورګان پر هند حمله وکړه (۸۰۱ه) کال اوډیلی ئی ونیو، نو د بهرته را ګرزېدو په وخت کښی ئی له خپلی خوا خضرخان د هند نائب السلطنه و ټاکه اوخضرخان وروسته د پاچاهی اعلان وکړ .

خټك خوشحال خان د خضرخان د کورنۍ ستاینه کړی اوداسی وائی چه د دې کورنۍ د محمدشاه نومی په زمانه کښی پښتانه په درنه ستر ګه کتل کېدل ، په عزت کښی وو:

بیاله پسه چه تیمور په هند را کښېوت
خضر خان ته ئی ور کړی حکومت ؤ
بیا سلطان مبارکشاه د خضر خان ؤ
چه ښکاره ئی له جبینه سیاست ؤ
بیا سلطان محمد شاه دده ورا ره ؤ
چه پښتون د ده په عهد په عزت ؤ

خوهرکله چه د دوی کورنۍ کېځله شوه ، وروسته تردی په (۸۵۶ه) کال بهلول لودی د پنجاب حاکم د کاکړو اونورو پښتنو په مرسته د ډیلی مرکز ځانته ونیو اوپاشاه شو وروسته ئی د هندوانو له راجګانو سره سختی جګړی و کړې اودشمال غربی هندټولی برخی ئی سره یو ځای او په ډیلی پورې وتړلی .

بهلول لودی د هند یو پښتون ستر ټولواك ؤ ، ده (۳۸ کاله) په هند باندی په خورا عدالت اوا نتظام سره ښه پاډشاهی کړی، تر بهلول وروسته سلطان سکندر د بهلول زوی د خپل پلار په ځای کښېناست، اوترسکندر لودی وروسته په (۹۲۳) کښی ابراهیم لودی پاچاشوچه له دی سړی څخه بابر شاه د تیمور کړوسی د هند پاچاهی واخسته خو پخپله ابراهیم د بابر په مقابل کښی ترهغه پوری مقاومت وکړ تر څوچه پرمیدان ووژل شو د پې وروسته د لودیانو پاچاهی ورانه اود مغلو پاچاهی شروع شوه

د هند د لودیانو کورنۍ لکه چه پخوا موهم وویل د پښتو خواخوږی اودپښتو ادب ئی خورابنه وپاله، سلطان بهلول پخپله د پښتوژبی شاعر اویو علم روزونکی پاچاؤ خلیل خان نیازی دده د دربار شاعر دی، چه ذکر ئی تپرشویدی .

د سلطان سکندر لودی په دربار کښی هم پښتانه لیکوال موجود وو ، خانجهان لودی د سکندر د دربار یو خورا ستر مورخ دی اودده په امر ئی د پښتنو او د لودیانو یو تاریخ کښلی دی، نوویلای شوچه د سترو لودیانو د کور نۍ پاچاهانو هم له خپلی ژبی پښتو سره تینګه علاقه درلوده اود شعر اوعلم پالونکی ؤ، خوښائی چه د مملکت انتظام اوپرله پسی جګړو دی ته د پښتو د زیات پرمخ تګ فرصت نه وی ورکړی .

د پښتو د ملی ادب پرادبی اوملی اصالت څېړنه:

لومړی د پښتو قصی ، نکلونه ناری : پښتانه هم لکه نور متمدن اودنړۍ تاریخی کاموته ځینی قصی لری چه په هره ډډه کښی خورا مشهوری دی د انکلونه د پښتو په ادب کښی لدی کبله خورامهم مقام لری چه د پښتو د ملی ادب یوه ستره برخه ئی تشکیل کړی ده پدی نکلو کښی د پښتنو سپېڅلی روحیات، افکار، رواج ملی دودونه په څرګندپول لیدل کېږی ، اوددوی د ژوندانه ځینی مهمی ډډی رابنکاروی .

داقصی د جوړښت له حیثه دوه ډوله دی ، یوه برخه ئی په نثر سره لیکل شویده چه د قصی پېښی پکښی بیانېږی او بله ټوته ئی ناری یعنی د تفننی اوشعری جنبې لرونکی دی ، خو له عشقی اوتاریخی ډډو څخه جوړې شوی دی ..

د فن په لحاظ د پښتو نکلونه د افسانوی او تاریخی جنبو په لحاظ خورالرغونی اودجوړښت له کبله فنی نثر کښل کېږی خودمحاوری اوساده عام فهم بیان رنګ پکښی خورا قوی دی .

داقصی لکه چه وموویل له پخوا زمانو څخه د نقل په دودما ثوری راغلی دی چه زیاتره ئی د شفاهی ادب په ډله کښی متوارشی بللی کېږی .

موږدغه نکلونه په لوی سرکښې په دوه ډوله سره جلا کولای شو :

لومړی: خیالی قصی دوهم فطری او عقلی قصی، په دوهمه برخه کښې حوادث په‌عقل اوفطرت برابر وی لکه دفتح خان مومن‌خان اولکه ظریفې عشقی اوحادثاتی افسانی، او خیالی نکلونه داهغه قصی‌دی چه‌واقعات ئی په فطرت باندی موافق نه‌وی محض خیال اوفوق‌العاده تصورات په هغو کښې رول لوبوی لکه‌دبدری اوسیف الملوك نکل ،دپیریانو ، دیوانو شیطانانو افسانی .

له‌عادت‌څخه وتلیو قصوته اروپایان (کونت ) یا «اکونت» وائی، اوواقعی حقیقی‌قصی دتاریخ یوه‌برخه ګڼی چه پرتدقیق اړه لری ترڅوچه تاریخی حقایق تری جلا کړی دپښتو قصی زیاتره عشقی اوحربی‌ډډې لری په عشقی نکلو کښې د دومینو پښتنی روح او سپېڅلـی عفیف احساسات له غرامی انجذاباتو څخه‌پاك‌دی ، اوحوادث ئی دخوند بیانات لری .

خو په‌جنګی‌قصو کښی‌دپښتنودشجاعو اجدا دو دتوری اومړانې حالات ښودل کیږی داقصی موږ دپښتنو یوادبی او تاریخی میراث ګڼلی شو ، سربیره پردی په دې افسانوی پردو کښې دپښتنو پاك اوساده بی‌تکلفه‌احساسات پدی‌ډول پټ او نغښتل شوی وی چه هره برخه‌ئی خوراجذابه او زړه وړو نکی وی بالخاصه په‌ځان سره هغه ناری‌چه‌دنکل په مخصوصو ځایو کښې ږ غولی کیږی داشان اغیزه ناکی وی چه اډو ، دزړه پردی خوځوی ،ځکه پدغونارو کښې ځا نګړی سوز ، سپېڅلی مینه د مینې‌توب ، واکه وتلی لیدنی ، عشقی مینه ، غرا می احساس میړانه ، تورە ، اونوری عفیفی عاطفی او ښکڼی ښکاره کیږی ، نوپدی حیث سره‌ئی پښتو دملی ادب یوبوب ټوك او عفیفه سپېڅلی برخه ګڼلای شو .

غرامی عشقی افسانی لکه د شادی بیبو ، مومن خان ، شرینو ادم‌خان ـ درخانیر اوداسی نوری .

جنګی‌قصی‌لکه دفتح‌خان بړیچ ، موسی‌خان او ولی‌جان افسانی اوداسی نوری قصی دی . دقصو دایجادتاریخ به جوت دود سره تراوسه ندی څرګندشوی ، مګرلحینی‌قصی د لحینو پهلوانانو له پیښو ، او نومو څخه لږاو ډیر څرګندښی‌چه هم . کوم وخت کښې جوړی‌شوی ، اوله کومو حوادثو سره رابطه لری‌لکه دفتح‌خان بړیچی ، اوادم خان درخانیر قصی چه‌دحوادثو ، اوځای د نومونوله مخې لږ اوډیر تحدید کیدلای شی .

دپښتو دنکلو جوړونکی هم ندی معلوم ، دومره ښکاري چه دا هم‌دوید د ادب په‌ډډه له‌یوه نسل‌څخه بل‌نسل ته‌په شفاهی ډول انتقل شوی‌دی او دغسی هم مخ په وړاندی روانی دی ، مګر دزمانی دعرض او طول په لړکښې د لحینو نامعلو مو راو یانو له خوا لحینی خو ندوری برخی ، لغات پکښې ز پات شوی اود محیطی‌مقتضیاتو په مطابق‌هری‌زمانی‌په‌دغوقصو کښې خیل تمیل او نفوذ په نامعلوم ډول سره لحای کړی دی .

دونه اتکل کاوه‌شی چه دپښتوداوسنی‌افسانی تر اسلام راپدی خواجوړې‌شوی‌دی ، یادا چه‌اصلا دقصو ماده له پخوا زمانو څخه موجوده وه او افسانی تری رالټېدلی وی خو په‌اسلامـی دوره کښې د پهلوانانو نومونه بدل شوی دی .

دقصو یوه یوه‌برخه دپېژند ګلوی لپاره لاندی راوړو :

رفتح‌خان‌بړیچی‌قصه : ددی‌قصی پهلوانان‌فتح‌خان پښتون شهزاده رابیا ګله د ده مینه ، دفتح‌خان‌مور ، کرمی چه هغه‌هم دفتح‌خان وروړو (مګرلحینی‌ئی دده‌نوکربولی ) او شپیته بړیچی سپاره محدود شویدی .

دفتح‌خان دژوند زمانه نه‌ده‌څرګنده ، خو په‌قصه کښې راغلی‌چه دده په عهد کښې کلابست ودان ؤ اوس‌نو باید دښت و تاریخ نه کتنه وکړوبست تراسلام دمخه د هیاتله ؤ په لاس کښې ؤ بیا ساسانی نو شیروان ونیو اوچه مسلمانان‌را غلل ، دانباریی ودان ولید ـ ځکه بلا ذری لیکـلـی دی چـه مـسلمانانو بست یا(فوزان بست) له (۳۰تر۵۰ه) پورې له‌رتبیل کابل‌شاه‌څخه واخست، اسلامی‌دائرةالمعارف دبست ورانی د(۵۵۰ه ) په‌حدو دوکښې دعلاوالدین غوری له خوا اوبیا دتیمور په لاس بولی خوشاهرخ دتیمور زوی په (۸۰۷- ۸۵۰ه) کښې بیرته بست ودان کړی اوسکه‌ئی پکښې وهلی‌ده ، ترشاهرخ وروسته بست وران اوغیرمسکون پاتی‌شویدی .

نودفتح‌خان دژوندډوره دکلابست په‌تیروشخې وکښې‌نه‌ده معلومه چه‌کله‌وه، خودپښتانه شعرا په کتاب کښې د (۹۰۰ه) کلوپه‌ترڅ کښې تخمین‌شوی چه داعتماد وړنه ده .

دقصی‌یوه‌لنډه‌برخه:وائی‌هغه‌مهال‌چه‌فتح‌خان‌هندته‌روان‌ؤ ،مورئی نه‌وه رضا اوداپه‌دروازه کښې ورته کښېناسته چه‌دی راستون کړی خوفتح‌خان له‌خپلو ۶۰ سپروسره په بله در وازه ووت اوولاړ ،خوچه مورئی خبره شوه داسی ناره ئی وکړه :

که‌دوې‌دی ، دوې‌دی کـلابست دروازی دوی دی

پریوه‌ئی فتح ووت پردابله‌ئی د مورسوی ناری دی

دفتح‌خان په‌نکل کښې د(رابیا) چه‌دفتح‌خان‌مینه‌وه ، او کرمی یادونه ډېره شویده، نوکوم‌وخت چه‌فتح‌خان دآخری ځل لپاره هندته‌دجنګ‌په‌نیت روان‌ؤ ، د(رابیا) په‌اروا، دده د خطر باران ژړېدلی ؤ ، اوخورا غمجنه‌وه نودفتح‌خان په‌آس باندې داسی ناره کړیده: دفتح کرنـګه نال‌نال به دی زرین کړم .

که‌دی داوار فتح‌راووړزماامیل به‌دی دغاړی لونګین کړم

دادم قصه: وائی آدم‌خان یوښکلی زلمی اودبازدری یوسف‌زی او د حسن خان زوی ؤ دده د پلار مقابل طاؤس خان یوبل یوسف‌زی‌خان یوه ښکلی پښله لور در لوده چه در خا نی نومیده‌اودواړه‌له کوچنی‌توب‌څخه‌یو پر پل‌مین‌وو،خودزمانی ناوړو پښتو دواړه دعشق په‌سرولمبو وسپځل ، داافسانه خورا له اوره ډکه اواوزده ده، یورقیب‌ئی (میرمامی) نومی چه‌غواړی دوی سره نژدی نشی، نوآدم خان دسختو پښتوپه مقابل کښی خورا ډیری جگړی اوسرښندنی وکړی خوپه‌پای کښی دعشق قربان شو اوناکام ولاړ ..

ددی‌قصی پهلوانان آدم‌خان ښکلی زلمی ، درخانی‌ر دده معشوقه ښایسته پښتنه پښله میرمامی رقیب، او پیرجو گی‌ددرخو پلاردی ...

ددې‌قصی دپښتی زمانه: د جلال‌الدین اکبر پاچا عصر اودهغه‌نوم په‌افسانه کښی ډېرتکرار شوی‌دی نود پښتانه شعراء لیکوال دآدم اودرخو دژوند زمانه تر(۹۵۰ه) وروسته‌بولی په‌هرحال ددې‌قصی یوشونارې:

آدم‌خان لومړی‌ر پلاردرخوته دخیلی سو ځندی مینی اظهار پدی الفاظوکوی :

درخانی‌میرمن‌ملوکی! چه‌په‌درست‌جهان‌دی ولاړی دحسن کوکی آدم‌ستاکتورنخورکړ ،که‌ورکوزی‌کړی ددواړوزلفو څوکی درخو چه‌یوه شپه دآدم دراتلو پـه انتظار شپه رونه تېـروی اوآدم نه راغـی نودا ، داسی ناره دیاس لـه کومی راکاږی پردانیم پالنگ وم‌ا ته، دغه نیم‌پالنگ‌می‌تاؤته‌پری‌اپښی :

خوچه‌ته زلمی رانـه‌غلی آدم خانه،
داور بـل ، وپښته مـی ژاړی گوښی گوښی

کوچنی‌ر قصی: په‌پښتو کښی ځینی‌وړی قصې هم شته، داقصی اکثره‌دمتاو‌یه‌څېر دزنیو، اومیرمنو یادی‌وی، او لـکه شفاهی ادبیات یوله‌بله رانقل کـېږی ، دابرخه ځینـی اخلاقی جنبې اواجتماعی غاړې هـم لری چه‌دمثال په‌ډول‌هـم و یلی کـېږی اوځینی‌ئی واقعی، ځینی خیالی افسانی دی د منشی احمـد جان پښتوری « گنج‌پښتو» دداسی نـکلو دتحریـری بر خی مثال گـڼل کـېږی .

هرکله‌چه په‌اروپا کښی له(۱۹) عیسوی پیړی‌ر را په‌دېخوا روسان لیکلو تحول وکړ اودرومـانو موضوع له‌خیالی شیـانو څخه وحقیقی اوعقلی شیانوته راوگرزولـه شوه ، او رومانونه پدې بنسټ ، بنا کـېږی ،نو باید موږ هم دې تحول‌ته ملتفت اوسو، په‌خپلو ملی رومانو کښی له فطری او حقیقی ذوق څخه کـارواخلو، اودگوتی دشیطانانو درقص تقلید په‌خپلو رومانو کښی را گـډنکړو ، دپردولپکوالو دآثارو په باره کښی هم دخدای‌اصفا، دعما کـدر» حکیمـانه‌مفهوم‌ترنظرلاندی ونیسو .

وړی‌قصی، له‌اوزدو افسانو څخه دونه توپیرلری چه پدغو قصو کښی سړی زرمطلب‌ته رسېږی په‌برو وړو نکلو کـښی کله (ناره) چه‌دپښتودملی‌ادب ممیزه‌ده ، له‌دوو برابرو مسر و څخه جوړه شویوی، اوکله‌یوه لنډه اوبله اوزده‌وی قافیی هم التزام نه‌لری کله‌دواړی مصری یوه قافیه‌لری اوکله‌بیایوه لنډه او بله اوزده او د ځانته ځانـته قافیو لرونـکسی وی، کله‌کله ناره دلنډی‌ر په وزن هم رالحی لـکه دمومن‌خان په قصه کښی دغه ناره چه‌شرینوئی دخپل‌گران مین دسفر دپرښودلو په مـدعا بولی .

تادسفرموزی په پښو کړی  دژېړو گـلوباغ په‌چاسپاری‌مینه

لنډی‌ر : دپښتو لنډی‌ر دملی‌ادب خورا مهمه برخه تشکیل کوی،ځکه داځانگه‌دومره وسعت‌لری چه دپښتنو حساسودماغو هـر ډول عشقی، فلسفی، تصوفی، ا جتماعـی ،جنگی ، حماسی معاشرتی، و لسی‌اوداسی نورتخیلات دپښتو په لنډیو کښی‌ځای کړی‌دی .

دلنډیو شاعران هـم معلوم ندی ، خو دومره څرگنده شوی‌ده چه‌له‌خورا پخوانی‌ر زمانې څخه لنډی‌ر د پښتو په ادب کښی درنه برخه لری اوتول پښتانه ئی اعم لـه پښلو، میرمنو زنیو، ځوانانو ، سپین زېـرو ، پوهانو او لیـکوالو څخه دلنډیو په‌بللو اوجوړولو کښی شریکان دی ، لدې کـبله په‌یوه ډله پوری لـکه عروضی شاعران اړه نه‌لری ، د لنډیو ، مادی جوړښت په درسته پښتو نخوا کښی یو شکل لری چه لومړی مصری‌ئی (۹)سیلابه ( هجا) اودوهمه ئی همیشه (۱۳) سیلابه لری ـ معنوی القاءات‌ئی‌خوراجذاب‌اودپښتنو احساساتو‌لره‌سخت تکانونه ورکوی ، لنډی‌په‌مخصوص لحن بللی کیږی خودلویی تیرا ، لحن دلنډیو په بللو کښی د ټولو پښتنو په‌مخ کښی خورا زړه وړونکی او دپښتنردو گړ یوخوښېږی ، پدی او سنـی‌دوره کښی د استاذ نبی‌گل کابلی لنډی‌ر د افغانستان په‌ملـی ادب‌او موسیقی کښی موثری اغیز ی غوزولی اړده ته د ټولنی له‌خواد «استاد » خطاب ورکړ شوی دی ، داستاذ قاسم تیراوالی ناری به‌هم پښتانه‌هېری نکړی ـ په عمومی دود و یلای شو چه لنډی‌ر دپښتو دملی ادب طبیعی اوفطری شعردی ـ دپښتو د لنډیو لکه وړونکی چه ندی معلوم دویلو نېټه ئی‌هم نه‌ده‌معلومه ، خوځینی تاریخی لنډی‌ر‌هم شته لکه دملالی لنډی‌دمیوند د ستری جگړی په‌معرکه کښی چه هغی پښتنی پښلی ببرغ واخیست او د سپـه له مخه شوه پردښمن‌ئی‌یرغل‌وروړاودا لنډی‌ر‌ئی‌په‌ملی آهنـگ ژغوله :

خال‌به‌دیارله‌وپنو کېښدم ـچه‌شین کی‌باغ کښی گل گلاب‌وشرموینه
که‌په‌میوند کښی‌توره نکړی ـخدای گواه‌لایه‌بی ننگی‌ر له‌دی‌ساتینه

بله لنډه چه د ویلو وخت ئی معلوم دی دالاندی لنډیـ ده چه زرکاله پخوا دسلطان محمود به زمانه کښی ویل شویده ، د سلطان په لښکر کښی یو پښتون جرنیل چه ملک خالو نو مېده ، کوم وخت چه دده لښکری له هندڅخه وطن ته راتلی نو یوې پښتنی میرمنی داسی لندې ویلیده :

چه د خالو لښکری راغلی ☆ زه به گومل ته دخپل یار د بدن ته لخمه.

دانوری برخی لنډیـ دجوړښت اومضمون له پلوه و گورئ :

عشقی: دمازدگر ژیړ په لمره ☆ په روغو وایه درنخور وسلامو نه

ددی لنډیـ ادبې ډډه خورالوړه ده اودنورو په ادب کښی نظیر نلری مثلا لومړی عاشق لمرڅخان قاصد تاکی ، بیا دمازدگر ژیړ لمر ، چه رنگ ئی له ناروغه ، مهجورعاشق سره مناسبت لری ، اوبیا دروغ اورنخور مقا بله ، او د سلام پیغام یوه دنیا ادبی ډډی لری چه شرحه ئی دلته نه لځائیزی.... دپښتو په لنډیو کښی زیاتره معشوقه پېغله ، زلمی ته خطاب کوې :

د لنډیو د مضمون اقسام:

حماسی:

اشنامی سر په وطن کښود

په تار د زلفو به کفن ورته گنډمه

☆ ☆ ☆

ایثار :

جانانه ته دی خوشحال گرزی

زما که عمر په ضرور وې تېر به سینه

☆ ☆ ☆

حکمت :

په لویو غرو د خدای نظر دی

په سرئی واوری اوروی چاپیر گلونه

☆ ☆ ☆

استدلالی :

که گل گلاب ښا یسته نه وای

بورا به ولی په اغزو څېرل څنگونه

☆ ☆ ☆

کم ازاری :

د مظلومانو ازارمه وړه

بیابه ناری وهی چه وسوم په او رونه

☆ ☆ ☆

تصوفی :

مینه کشتیـ، عشق دی در یاب دی

شیطان نهنگ دی عالمو نه غرقوینه

عشقی علمی :

ز ماو د ستاترمنځ لوی غر و نه

سپینی سیوزمیـ ته سلام کړه سلام به کړمه

☆ ☆ ☆

دعزم کلکوالی :

یا به می داسو به نصیب شی

یابه می سر د غر غر ی شمال و هینه

☆ ☆ ☆

دسعی ښوونه :

ولاړ شه له بلخه د نیارا و ړه

په کورنیـ پانگه می پلار نه در کوینه

☆ ☆ ☆

ادبی توریه :

مادی او ز دی لاری کتلی

زه دی د لنډو لار و شه خبره ومه

☆ ☆ ☆

دجهان بی وفائی :

په نړیـ مه نا زېږه یاره

له شاهجهان پاچا نه پاتی شول ملکونه

☆ ☆ ☆

دژوند پای :

په جنازه می تلیوار و کړه

ناوخته کیږی ناآشنا وطن ته لخمه

☆ ☆ ☆

وفا اوثبات :

ښه شوه چه ته په خیر راستون شوې

ماد کجکول پتری و هل در پسی تلمه

☆ ☆ ☆

طبیعی تخیل :

بیگادی می شته لا د لې وه

اوس به دی چهری بادوهی دپگړی ولونه

☆ ☆ ☆

عشق اونارامی :

آسمان ته لار دختو نشته

دمځکی سر دی را ته بلی لمبی که نه

☆ ☆ ☆

توبیخ :

چه ماویل هغه دی نکړ ل

خاوری ایری شوی اوس دی بادراپسی وړینه

دیار دغابنو مدحه :

د سپینو غا بنو دی بر بښنا شوه
ماوبل گلی ده پر تیر ائی اوروینه
☆ ☆ ☆

دمحبت درس :

یا رانو ، یو تربل جار ښ ی ء
نړی فانی ده ، مېلمانه دی صور تو نه
☆ ☆ ☆

تهدید :

د لو یو غرو بر غو ځی مخو ر ه
مو ر به دی بوره کا مسید راغلی دمینه
☆ ☆ ☆

همداډول لنډی خورا ډېرو ادبی ، اخلاقی ، هیرو ئیك ، لیریك او نورو مضامینو ته حاوی دی چه په دې مضمون کښې له زیات تفصیل ځان ژغورم .

دښتو متلونه: دښتوملتو نو نه هم دښتو دادب یوه غوره او ستره برخه گڼله شوی ده ، دامتلونه له خورا پخوانی زمانی څخه مو جود ، او زموږ دپوهانو، نیکونو دېرېرو پېرېو دتجربو اوپوهی نتیجه ده، چه دمتل په شکل سره ئی وینا تاکلی اودعقل په حساسه تله ئی تللی ده ، متلونه هم د نکلو غوندی له یوه نسله بل ته پاته شوی اوموږ ته زارسپدلی دی ، دمتلو د جوړېدو نېته هم د لنډیو په څېرنه ده څر گنده ، او جوړوونکی هم نه دی معلوم ، د متلو عبارات لنډ ، فصیح او بلیغ دی ، خورا ښه اجتماعی ، فلسفی، اخلاقی معاشرتی اوادبی مطالب هم لری دابرخه پښتو متلونه که څه هم دنثر څانگه ده ! خوزیاتره ئی سجع زواج او قافیه هم لری . متلونه هم لکه ملی ادب دښتو دځینو عاداتو ، او اجتماعی ژوند هنداره ده ، اودکام ذهنیت اوعقلی سویې معیار تر ې څر گندېږی ، متلونه خو را پخی پخی داعتبارونو عنعنی دی چه د ژوند لار ښوو نکی قاعدی شمېرلی کېږی :

متلونه هر کله چه منطقی ډډی لری نو مطلب ته قوت ورښندی ځکه ئی شاعران اولیکوال هم دخپلو اشعارو ، وینا ؤ په ترڅ کی دبرهان په دود راوړی ،

په مثل کښې عرب داستعمال لځای په اصل مورد قیاسول غواړی نو په پښتو کښې هم متل پدغه معنا مروج دی ،ښائی چه دعربی مثل په اسلامی دوره کښې دپښتو متل جوړشوی وی،خو په پښتو کښې دامفهوم د دوی دزړو ادبیا په دلیل خورا پخوانی دی ،ځکه پښتنو د تاریخ په شاهدی ، دبا ختری ژوندانه ، په زمانه کښې متل هغو ویناؤ ته وایو چه له تجربو ، اوادبی حکمته څخه جوړ شوی وی ، بلکه دځینو پوهانو په عقیده ترشعر متلو نه ، دملت له پسیکولوژی څخه گڼور معلومات سرچینه ده ورکوی ځکه شعر دپوهانو اولوړو لیکوالو دتفکر ... ه وی اومتل دعوامو دروح له اعماقو څخه راوزی نو په متل کښې ... د عقلیت سو یه څر گنده شوی وی ، په دی قرار نومتل ترشعر دعوامورو ح ته نژدی دی اوزرتر ې اهنری اخلی ، خود پښتو په ځینومتلو کښې داډول گران گران مطالب نغښتی شوی وی چه رښتیا خبر دغه ده چه متلونه له هغو مخصوصو نکتو څخه چ کدی چه هغه دقایقد شعر له لفظی اوتصنعی تکالیفو څخه نه ښکاری اسرائیلی اقوامو ، اوبیا پخپله عربو هم دجاهلیت په زمانه کښې ځینی متلونه درلودل چه هغه ئی په روز مره ژوند کښې د قوانینو په څېر استعمالول خو هر کله چه دغسی عنعناتو د عوامو له عمومی سوئی څخه نماینده گی کوله طبعائی ځینی اجتماعی تاوان او نواقص هم لرل، لدې کبله ؤ چه اسمانی مقدسو هدایاتو زیاتره هغه سیلا بی مقولې د منزلو احکامو په ذریعه یا له منځه یوؤ وړل او یائی اصلاح کړل لکه دامثل چه عربو په جاهلیت کښې درلود : ،، القتل ینفی ء القتل ،، یعنی وژله وژله ورکوی ، داوینالوځه هم دځلی (قانون) په دوداستعمالیده اما اجتماعی او ادبی نقصان ئی هم څه پټ شی نه دی ځکه هر قتل بل مردف قتل نه ورکوی ، بلکه دظلم قتل ډډیرو قتلونو مایه گرزی او کمه وی خوئی اصلانه ، یو قرآنی هدایت ډډی مثل اصلاح پدی ډول سره وکړه قوله تعالی (اوفی القصاص حیاة) یعنی یوازی په حق قصاص کښې ژوندپروت دی نه په هر قتل کښې،، دابحث داسلام په مذهبی اودینی ثقافه کښې څر گند مثالونه لری چه دلته نه ځایېزی دلته پرموږ داخره لازمه ده چه ووایو : دښتو متلونه څه ډول دښتو عقلی اوادبی ثقافه موږ ته راښئی ! نو یو عرب پوهاندوائی «کبر نی موت الکبراء» یعنی،، زه دښو مړومرگ ، ښه مېړه کړم ،، دغسی پښتانه هم یو متل لری : (له نه ومړو، ملک شوبړو) یعنی،، دپوهومړوله نیستی څخه، بړو ناپوه اوس مشرشو ،، نوددغودواړو وعربی او پښتو متلو مفهوم یو او خورا حیکما نه ډډی لری .

داراز پښتانه وائی : کار چه په صلا شی ، بی بلاشی ،، داوینا لوړه اجتماعی معنا لری چه خدای پاک ئی د کریمه آیت په په ذریعه داسی ارشاد فرمائی :

« وشاورهم فی الامر»

پښتانه متل کا،، دصلحی ستونځه چه نشی منظوره ، نولاس کړه پر توره ،، . . . .

عرب وائی : ،، آخر الحیل السیف،، یعنی دروغی لپاره ډیرچلونه موجود، دی چه ترټولو آخره توره ایستل دی له دې متله څخه څر گندېږی چه پښتانه له سیاسته څخه هم بی خبره نه ؤ ، ځکه هرځونه چه دوی پیاوړی اوتوریالی خلق دی مگر له جگړې څخه په صلح باندی خوښ دی ، خو که صلحه امکان پیدا نه کا ، نوبیا پریکړه په توره

باندی وی او په توره هم هغه مهال گوتی پوری کـو ی چه د صلحی او روغی ټولی هیلی شنډی شی .

دپښتو متل : چه بد گرزی ، بـد به پرزی ،، داراته ښکاره کـوی چه پښتانه دلوړو عالی اخلاقو خاوندان دی ، او بدی ته طبیعی میلان نلری ، بلکه دبدی نتائج تر پخوا وینی او داسی کارته چه بدعواقب لری زړه نه ټړی .

بیا وائی ،، بدی دبدی تومنه ده ،،یعنی بدی اواضرار دبدی مایه ده چه ضرر تری زیښی .

بیا وائی ،،پردی کټ ترنیموشپووی ،،ددی متل په قرار څرگندیږی چه پښتانه پخپل مټ ویسا لری ، او په پردی ، زور او مرسته زړه نه تړی نو پخپله خپل ځان هرې سختی ته چمتو کو ی .

متل : جگړه په و سله او ننگ په غله ،،

لدی وینا داسی مطلب څرگندیږی چه ددی تبر اجتماعی ژوند په ننگ اوجنگ باندی ویسا دی ، ځکه پښتانه دخاصمانه حر کاتو په مقابل کی جگړی ته حاضر یږی ، او دخپلوی اودوستی په برابر کښی ننگ او غیرت دآزادژوند ضروری چاره گڼی نو د نظم او امنیت لپاره وسیله او ، د احسان او میلمه پا للو ، او ژلـی ننگ د پرځای کولوله کبله غله برابر وی اودزراعت ، کرهنی په کارخوی لگوی

متل ،، پر پچه وخوت ، کشمیر ئی ولید ،،

دامتل دامعنالری چه پښتانه که هم څه دملې غرور خاوندان دی اما په لږ څه ځان نه بایلی اوعقلی ډډه ئی له بی لحایه غروره څخه ژغوری ، متل : ،، دډیر ولگیدی دیوه غوڅی ،، لدې متله څخه د پښتنو ملی تعاون ، بسینه ورکول یوه اجتماعی عنعنه ده ،

یوفاضل پوهاند لیکی : کله کله دپښتنو په متلو کښی دفلسفی خورا گرانی گرانی خبری راځی ، اودا راڅرگندوی چه د پښتنو عقلیت له پخوازمانو څخه سوچ بدوی نه ؤ بلکه ددوی په طبیعت کښی خورا ژور توب هم لحای درلودمگر طبیعی رنگ ئـی لحانته غوره کړی ؤ خو دوضعی او کسبی پوهنو صیقل ئی نه ؤ لیدلی. مگر دامفکوره چه جهان زموږ داعمالو نتائجو د انعکاس لحای دی اوهر چاته دخپل عمل جزا ورکوله کیـږی ، داخـبره د فطری فلسفی خورازړه خبرده ،مولانا جلال الدین بلخی ستر متصوف وائی :

این جهان کوه است فعل ما ندا ☆ باز گردد این صدا ها سـو ی ما

پښانه دا قانون دعمل په ډگر په اجتماعیاتو کښی تطبیق کوی خود تجاوز جزا تر تجاوز سخته ورکول لازم گڼی :خو شحال خان دا دپښتنو سجیه په شعر کښی داسی څرگنده کړی ده .

که په توره ئی لحواب ورکړی مردی ده
که وجود ، دی څوک ازار کاندی په چوب

که څه هم بدې وینا کښې دپښتو پلار په مقابله جزا کښې تجاوز کړی دی، مگر دامتقابل نتائج د پښتنو داجتماعی ژوند بنسټ گـڼل

شوی، اودوی هیڅکله دچابنه نه هیروی اما دبدی خورا بد تره مقابله کوی، پښتانه هغه څه چه له نورو څخه هیله لری ، پرخپل ځان باندې ئی هم فرض گـڼی، مثلا حمیدماشوخیل وائی :

چه دبل ننـگ او ناموس ساتلی نشی
وبه نه ساتـی شوك خپل ننـگ و ناموس

دافلسفه دپښتنو په دغه لاندی متل کی خورا بنه څرگنده شویده :

مه کوه پرچا، چه وبه شی پرتا ...

متل : کـه تـه وائـی چـه زه یـم
اوزه وایم چه زه یم نه به ته ئی نه به زه یم
خـو کـه تـاویـل چـه تـه ئـی
اوماویل چه ته ئی هم به ته ئی،هم به زه یم

نودافلسفی متل دزیست باهمی طرز موږته راښئی، اوداطرز دنړی پوهانو نوی کشف کړی خو پښتنو په خپل ملی ادب کښې له خورا پخوازمانی څخه چه تاریخ ئی نشی تحدید کـړلای ، دامفهوم درلود، اوپخپلو منځو کښې ئی دقانون په ځای عملی کا ؤ.

دغسی نور متلونه لکه : څوك چه خوبونه کوی د هغو نر کـتی زیښی، چه غفلت کوی هغه به تاوان وو یني ... دامتلونه مات لاس غاړی ته لوڅیږی اورو غ صورت پا که پاچـاهی ده

او «یتیم په ژړاشو خ دی » یاسرکلی د یتیم په سر زده کـړه ښی. یادا : « سل دی ومره ، یودی مه مره » چه بادنه وی و نه نه ښوری، وسله هغه ده چه په لاس درغله « که غرلوی دی په سرئی لارده» دبهدیا ترگـټندوی دکـورسا تندوی ښه دی «دلټ غوائی خاوند، اخرقصاب دی » له پروت زمری څخه گرزند گډړښه دی «آزمویلی بیامه ازمویه » پسته غاړه توره هم نه خوری» څوك چه پیلان ساتی ، دروازې دنگی جوړوی» دښکار غوښی دځان غوښی ...

دپښتو متلونه خورا ډېردې اما تر اوسه ټول نه دی ټول شوی اودغسی تیت اوپرك دپښتنو په دماغو کښې پراته دی، چه له یوه نسله بل ته رانقل کېږی، اوهمدغه برخه ده چه ددوی دعقلی او عاداتو، دودونو، اخلاقو صفا هنداره ګـڼله کېږی ...

موږ باید پوه یوچه (ژبه ـ شعر ـ نکلونه ـ متلونه اوعنعنات) دپښتنو دعقلیت اواخلاقو مظاهر دی، اوهم دغه پنځه شـیان دی چه دهر ملت عقلیت اواخلاق تړې څرگـندیږی اودملت له پسیکو لوژی څخه نمایندگی کوی، ځکه داشیان هرکله چه ورو ورو اوپه اوزدو زمانو کښې دهر ملت له اجتماعی روح څخه راوژی، نوپوهانو کولای شی چه دیوه ملت دپسیکو لوژی پلټلو په لـړ کښې له دغو شیانو څخه خپل مرام ته بشپړ شواهد برابر کاندی اوپه دغو شیانو کښې دکامو نو دپسیکو لوژی غـوره ممیزات پټ پراته دی موږهم که چیری دپښتنو پرړو حیاتو باندې دیوی

بشپړی څېړنی اراده وکړو، نولو مړیۍ بایده دی چه پردغـو شیانو باندی بېله بېله څېړنه‌وکړو او داڅکه چه لومړیۍ ژ به دهرملت پرعقلیت لدی کبله دلالت‌کاچه دهرعصر دعقلی مظاهرو یومهم مظهر ژبه‌ده، دیږه مستمر مرګ اوژوند په مرحله کښې روانه وی مثلا که‌دانـګلیسی ژبی دسلوکالو پخوانی یو کـتاب سړی ولولی په‌هغه کښې به درادیو، او تلویزیون نو مونه ونـه وینی، نوداپردی دلالت کوی چه‌انګلیسانو هغه وخت داشیان نه پېژندل .

هرکله چه دپښتنو دژبی په حیات کښې د میښو ، میږو، مېزانو، اوښانو کېږدی، ددرکانو ، مراندو، دغره‌دطبیعی شیانو نومونه دپرلیدل کېږی نوویلای‌شو چه دپښتنو ابتدائـی ژوند لـکه دپخوانو آریائیانو له‌دغو شیانو سره ؤ، په‌شعر کښې هم دملتو اجتماعی نفس اوپسیکولوژی جوړښت‌اوفکری‌بنیه داسی بنکاری لکه په هنداره کښې. تاسی تردی پخوا دپښتو پراشعارو ځینی علمی‌تبصری وکـتلی، او درځرګـنده‌شوی به‌وی‌چه‌شعر د پښتنو دپسیکو لوژی، طبیعی محیط اواجتماعی چار چا پېر مظهر دی نـکلونه اوهغه ملی سندری چه دوزن، قافیی او نورو مزایا ؤ له‌مخی بشپړ پښتودی، ټوله د پښتنی عقلیت او تخـیل نتیجه ده اوهم دغه برخه اشعار اودهغو طبقات او تطبیقات زموږ مهـم مطلب ګـڼل کېږی دمتلو پراهمیت موږ مفصله څېړنه وکړه ، اودعنعناتو اهمیت‌په‌هره‌ژبه کښې‌څرګـنده، اودځینو اقوامودتاریخ زورور جزء هم ملی عنعنات دی، موږ په لـومړیۍ برخه کښې دزړو اریائیانو ځینی عنعنات وڅېړل‌اودپښتوځینی عنعنات موهم یادکړل، دعنعناتو اغېزی، دپښتو په‌ادب کښې لـه څلورو زړو کالو راپدېخوا ترنن ورځی لیدلی کېږی دپښتودملی ادب‌ځینی نوری برخی لـکه : سپری بدلی ، نیمکۍ اوڅول څول سندری به په‌راتلونکو برخو کښې ترڅېړنی لاندی راشی د لته پـدی بـاره کښې زیات تفصیل زموږ د لنډیزله جاله څخه بهردی ...

د پښتو نثرته پد غه دوره کښې یونظر : داخبر جوته بر ښې چه دپښتو محاورئی نثر به له‌خورا پخوانوزمانو څخه موجودؤ ، ځکه لـکه چه پوهان وائی دا ډول نثر دژبی له‌لومړیۍ مرحلی سره ملـګری‌دی اوموږ ثابته کړه چه‌دژبې او علومو فنی جنبه په وصفی تحقیقاتو مقدمه وی نوداهم بـاید ووایو چه دپښتو نثر به‌تر نظم پخوا مو جود ؤ اوداسمه خبره‌ده چه‌پخوانو مشرانو به‌په همدغه ژبه پښتو په‌سو ؤ کا لو پخـواخبری او وینـاوی کړی‌وی، چه‌دلیك اوکاغذ پر مخ نه‌دی ثبت شوی، او دلوئـی فضا په‌نامتناهی محیط کښې‌جذبی شوی او هېری شویدی زموږ لاسته چه تراوسه پوری دپښتوپونثر راغلی‌دی ، یوازی‌دسلیمان ماکو د « تذکرةالاولیا» نثردی چه‌نمونه موئی دمخه ولیـکله، نور نوپدې دوره کښې د پښتو بل نثر لاسته نه‌دی راغلی، که څه‌هم (پته‌خزانه) دنثر له څو نورو کـتابو څخه هم معلومـات راکوی لکه لرغونی‌پښتانه «تاریخ سوری» دشیخ ملی دفـتر ، دکجوخان تـاریخ، خوهغه زموږ په‌لاس کښې‌نشته، پدی لحاظ په‌تېره دوره کښې دپښتو دنثر ډډه‌خورا لږه اویوالخنیۍ نمونه ئی هم دسلیمان ماکو دتذکرې نثر دی اوبس .

لدې یوی نمونی څخه دونه ښکاری چه دنثر سبك ئی لـکه دهغې زمانی نظم ساده اومرسل نثردی ، چه دموضوع په‌لحاظ خورا محدود، اویوازی مذهبی او تـاریخی ډډه لـری، دونـه معلومېږی چه ددغی دورې دزیاترو کـتابو نو مو نه هم پښتو دی لـکه‌دسالو وزمه، «لرغونی پښتانه» دشیخ‌دفتر ددې دورې په نثرکښې ځینی ملی‌قصی هم ګډون لری خودونه خـبره ده، هرکله چه ملی قصی‌په‌یوه یاځو کـتابو کښې نه‌دی لیکل‌شوی ، نوبه شفاهی وضع سره پخپل حال نه‌پاته کـېږی او بیـان ئی دلغاتو له‌مخی دمحیطی مقتضیاتو په‌قرار له تحول سره مخامخ اوپه هرډول تغیر معروض ګـڼلی کېږی، چه موږته په پخوانی ډول سره بی‌له تغییر څخه دنـکلو را رسیدل محال بر ښې ...

دریمه‌دوره‌له ۹۰۰هـتر ۱۱۰۰هـپوری‌دبابر پاچااودهغه‌داولادی‌عصر:

هر کلـه چه « د پښـتو دادب د تار یـخ » دوهمه دوره مو په لنډ دود ولیکله ،نواوس غواړو چه‌دریمی دورې په‌لیکلو لاس پوری کړو، پدی دوره کښې د«پښتو دادبیاتو تاریخ» لږ اوډېر واضح او څرګندی، اودپښتو خورا پیاوړی لیکوال او شاعران چه‌دمتوسطینو دسبك موسسین ګڼل کېږی په‌دغه‌دوره کښې تېر شویدی ، اوس ددې دورې د شعر او ادب په لیکلو پیل کړو :

ددی دورې لیکوال او شاعران :

میا روښان : د میا روښان محضه نوم بایزید دی، خودی‌په پېر روښان، میاروشان‌سره شهرت لری ، پلارئی عبدالله خورا نیك‌مېړه تېرشوی چه‌دوزیرو به‌کانېګرام کښې استوګنه‌درلوده، میاروښان په(۹۳۲) هجری‌کال په کانېګرام کښې زېږېدلیدی ، په‌کام ارمړدی ، دخرښبون له‌اولادی څخه ،روښان په کوچنیتوب کښې لادبوهی او تندفکر خاوند ؤ،اوله زدکړې څخه وروسته د پشړ فضل او علم څېښتن وګرزېد ، رو ښان د خورا حساس فلسفی دماغ خاوند ؤ ، لدې کبله چه‌په تصوف کښې هم‌خورا قابل ؤ ، خوپه عقلی استدلال کښې ئی داسی‌مهارت‌درلود ، چه معارض به‌دی‌پر کولای نه شوای ، ده‌به‌پښتنو ته‌همیشه تبلیغ او اونصیحتونه کول، ترڅېړې‌مودې‌پوری‌دهغولتو دپښتنودمشرتابه واګی دده په لاس کښې وو ـ رو ښان د پښتنو د اتفاق ، او خپلواکۍ ستر لیوال ګڼل کېږی، په دی نسبت موفق شو چه دمنځنی اوشمالی پښتونستان پښتانه‌دهغه‌زمان د مغلی‌امپراتوری‌

په مقابل کښی کلك ودروی ، اوددې پیاوړی تېر د مقاومت او زور ورځ بېرته راپاڅوی ـ روښان دپښتو ژبی دادبی خدمت په لحاظ ،پرتوله پښتونخوا حقوق لری ،اوپه سم په څلورو ژبو لکه پښتو ،عربی ،پارسو اواردو کښی پوخ لیکوال دی ، روښان یو خورا مهم ادبی کتاب لیکلیدی چه خیرالبیان ئی بولی ، ددی کتاب دفنی نثر څو نمونی لاس ته راغلیدی ،خوپخپله اصل کتاب ورك دی ، اروو چه خیرالبیان دلندن په برتش موزیم کښی شته دی، څرګندېږی چه د(۱۰) هجری قرن د پښتو نهضت له میا روښان څخه را لټېدلی دی ، ځکه د روښان دپښتو لیکلو ، او خیرالبیان په وجه پښتنو لیکوالو بله پلا دپښتو نظم او نثر ته توجه وکړه ،اودپښتوآثار ډېرشول.

مبارو‌ښان سربیره په علمی فضیلت یوشجاع عسکرهم وٶ، ده ډېره موده دمغلو دمنظمو قواوٶ په مقابل کښی جګړی وکړې، وروسته تر ده د نوموړی اولادی هم دروښان ادبی او سیاسی رویه تعقیب کړی پښتانه مورخین میاروښان یوسترمبلغ ،دپوهی خاوند ، مفکر، سیاستمدار ، شاعر ، لیکوال بولی داخبره خو څرګنده ده چه نوموړی ددې دوری دپښتو دنوی نهضت سرکښ دی، ده سربېره پرخیرالبیان ، دخپل ځان دکار نامو په باره کښی یوه(حالنامه) او بل مقصودالمومنین هم لیکلی چه اخرنی کتاب ئی به عربی ژبه تالیف شوی ،دروښان خیرالبیان له طریقت ، شریعت اودینی حکمو څخه بحث کوی ،دولت لوانې پخپل دیوان کښی وائی چه دروښان خیر البیان په قرآنی او نبوی احادیثو باندی موافق کتاب دی ـ دپښتانه شعر دلهجی څخه خیرالبیان ته راجع داسی ښکاری .

دخیر البیان سبك : د پخوانو شاعرانو سبك له (۷۰۰ ه) څخه وروسته تحول وکړ ، عروضی دوره شروع شوه خو ددوو سبکونو په منځ کښی د انتقال دوره طبیعی وی، پرپښتو ادب باندی دادوره راغله ځکه دپخوانو اشعار له تصنع څخه تشوٶ ،اواشعار ئی پرملی ذوق باندی بناوٶ ، مګردهرات اوهند دمغلو په زمانه کښی هرکله چه د پارسو شعر د آسیا په پراخو هیوا دو کښی خپور شو، اودایران اوهند ادبی اړیکی ئی سره ټینګ کړل، نو زموږهیواد چه ددواړو مملکتو په منځ کښی پروت دی نوپښتانه هم ددغودواړو هیوادو په څېر، دهغوی له شعر او تنکو صنائعو څخه متاثر اوپه عربی اوزانو برابر ئی په عروضی اشعارو جوړولو باندی پیل وکی ، خوتربوې مودې پورې چه لرغونې مبادی لابشپړ ورکی شوی نه وی او نوی تقلیدی اسلوب لاټینګ شوی نه وو، نوپه دی مهال په افغانستان کښی یوداډول سبك منځ ته راغی چه نه بشپړه عررضی ، او نه بوره خالص ساده نثر بلل کېږی ، ددې سبك لومړی کتاب ښائی چه دشیخ ملی یوسف زی هغه اثروی چه ده څینی څماسی قصی او دسوات دیوسف زو ، فتوحات پکښی لیکلی‌ؤ ،اوخپل کام دمخکو ویش ئی هم پەدې کتاب کی داخل کړیؤ ،چه تراوسه لامعتبردی ، ددې کتاب نوم دشیخ ملی دفتر ضبطشوی اومستشرقینو لیدلی دی ...

حیات خان هم، په(حیات افغانی) نومی اثر کښی دپښتنوځینی پټې ددې کتاب په حواله یادی کړېدی هرکله چه دپښتنو دځینو کامو دمها جرت قصی دهوتکو له غوړی مرغی او دقند هار له ارغسان څخه، کابل، سوات، ننګرها او پېښورته ، پەدوی کښې شهرت لری، نو اخوند درویزه‌هم دې‌مهاجرت ته‌اشاره کړی‌او پخپل اثر(تذکرةالابرار، اواسرار) کښی‌دشیخ‌ملی‌یادونه اودهغه دتپو ویش ذکر کړی‌دی ....

افضل خان خټك په‌تاریخ مرصع اوراورتی په ګلشن روه کښی داخوند دخبری تائید کړی دی ،بیا حیات‌خان اوشیرمحمد ګندپور ،دغوافسانوته ګوته‌نیسی اوخوشحال خان هم په‌سوات کښی دیوه کتاب یادونه کوی اود(شیخ‌ملی‌دفتر)ئی بولی، مارکن سټېرن Margenstierne ناروېژی‌پوهاند، د راورتی Raevrty په‌حواله‌وائی چه‌راورتی دشیخ‌ملی کتاب لید لی دی (دهندزړو اثارو مجله ۱۱ج، ۳٦٦ مخ)

درویزه په‌یوسف زوکښی دیوه‌بل کتاب چه(پاکان) نومیدی هم‌یادونه کړی، خوله‌بده‌مرغه اوس یوله دغو اثاروڅخه نشته ، نوموړ بې له‌دې چه‌خیرالبیان ، ددې دورې د پښتو ادب نمونه وګڼو بله چاره نه‌لرو ، دخیرالبیان دنثر څو نمونی هم مارکن سټېرن ،دهند دزړو اثارو په مجله کښی خپری کړی اووائی چه ددې کتاب خطی نسخه چهارشنبه ۲۰ دروژی (سنه ۱۰٦۱ه ) دفقیر بهار طوسی په‌قلم لیکل شوی ده اودپښتو له زړو متونو څخه‌ده ... اخوند درویزه که څه هم د پیر روښان یاپیر تاریك د مسلك کلك دښمن‌دی خوپخپل مخزن‌الاسلام نوی قلمی کتاب کښی داسی وائی چه با یزید د عبدالله زوی له علمه ئی‌بنه برخه درلوده، اودهند اوترکستان په‌سفرو کښی‌ئی‌دمذهبو فلسفی کتلی یوعالم او فیلسوف سړی وو ، ده یونوی مسلك‌را ایستلی اود افراطی متصوفینو په‌څېرئی ځینی افکار څرګندکړی‌دی ، محسن فانی، کشمیری(۱۰۲۰- ۱۰۸۱ه) روښان په (اوه) پلاره شیخ سراج‌الدین انصاری‌ته‌رسولی چه‌پلارئی‌عبدالله' اومورئی (بنین) نومیده ،روښان په‌عربی، پارسو،هندکو اوپښتو مصنفات‌لری،چه له‌دې جملی څخه‌مقصودالمومنین‌ئی په‌عربی‌اوخیرالبیان‌ئی‌به‌څلورو ژبو ، یعنی عربی، پارسی، هندی‌اوپښتولیکلی‌دی(دولت‌لوانی) دروښان‌مریدا‌وشاګردوائی:روښان‌خیرالبیان‌په‌څلورو‌ژبو لیکلی اودپښتولپاره‌ئی ګوښی‌رسم الخط ولیکی (ددولت قلمی دیوان په‌پښتوټولنه کښی ) دروېزه وائی چه‌روښان دپښتولپاره په‌پښتو پارسیانو ته په پارسو او هندوانوته په‌هندکو، موزونی اوله

طبعی سره سمی خبری جوړولی، ده شعر وایه او په شعر کښی درویزه هم د روښان پیروی کړی ده .. نو لکه دارمستتر چه د (پښتو په هار او بهار) نومی د پاریس چاپ خپل اثر کښی لیکی روښان شاعر هم ؤ او په (۹۹۴ه) کال مړ شوی داخوند درویزه په قول په اشنغر کښی ښخ شو، په بل روایت د روښان اپو کی دده اولادې په تابوت کښی له لغان سره گرزول او بیائی په کانیگرام کښی ښخ کړ، چه زیارت ئی هلته موجود دی .

دده دخورامهم کتاب خیر البیان هغه نسخه چه مارگن ستیرن لیدلی ده (۱۶۷) مخه لری لغینی عربی جملی ئی په پښتو متن کښی او پارسی ئی په گوښی قلم په حواشی باندی لیکل شوی په مقدمه کښی هندی او پارسی لیکونه لیدل کیږی ، دخیر البیان دسبك خواص دادی :

۱- شعر ئی نیم موزون دی ، د عروض د اصولو بشپړ رعایه نه کوی ، د بیت مسری ئی نه دی سره برابری ، یوازی د مسریو په آخر کښی قافیه ساتی لکه په مسجع نثر کښی .

۲- د شعر مضمون ئی تبلیغی، دینی دی اخلاقی نه اهم لری .

۳- هر کله چه عربی او پارسی کلمات ئی په شعارو کښی ډیر دی نو د پښتو انو د سبك دروانی او انسجام فاقد دی .

٤- لدې کبله چه د کتاب غایه د پروپاگند پر اساس بناشوی ده نو لغکه ئی ادبی او شعری پله سبکه ده ، او مطالب ئی ادبی لطافت او شعری صنائع نه لری ډیر جملی ئی مقفی دی د دې نیم عروضی سبك مشهور پیروان .

لومړی : پخپله میا روښان د سبك موسس .

دوهم : اخوند درویزه ننگرهاری .

دریم : کریم داد داخوند درویزه زوی .

څلورم : عبدالسلام چه اخوند پرمخزن ئی لغینی اشعار په هغه سبك زیات کړی دی .

پنځم : عبدالحکیم د عبدالله داخوند لمسی چه ده خپل اشعار د خپلو نیکونو په څیر پر مخزن پوری تړلی دی ،

شپږم : مصطفی محمد د عبدالکری لمسی داخوند کړوسی اووم اخوند قاسم شینواری دا کبر پاچا معاصر چه خپل د پښتو فوائد الشریعت د خیر البیان په سبك برابر لیکلی دی .

اتم : بابوجان نورستانی (دراورتی د پښتو کرامر دیباچه) دی د (۱۰۵۰ه) په حدود د کښی ژوندی ؤ او داخوند د زامنو معاصر دی، لغینی اشعار ئی د خیر البیان په سبك برابر دی .

لاندی د خیر البیان د سبك یوه نمونه ولولی:

ښی ویل دی، رحمت دوی پرده، مرگ بهورشی وسړی ته ناگهان، نشته په دنیا کښی د سړی تل تله مقام، گوره د دغی زمانی آدمیان، غواړی دنیا او هرڅه چه په کښی دی، مشغول دی ډیر آدمیان لغینی په کرلو یا بازرگانیږ ، یا په توره کښی باندی، لغینی په نورنور چارو مشغولی کا آدمیان که هوك آس اسپی لری، کال تهرشی تمام، څښتن یی اختیار لری چه یو دینار دی ورکړی د هرحیوان ، یا د بها کړی له دوو سوو رمو دی یو ورکړی تمام، له برنی ډیر توقی څخه څرگند ښکاره چه (خیر البیان نثر په قافیه لرونکی او مسجع نثر کښی داخل دی ، که څه هم لغینی عبارات ئی موزون هم وی مگر د نظم په قانون بشپړ نظم نه بلل کیږی بلکه یو نیمگړی نظم دی د اډول شعر په هغه وخت کښی د دینی او مذهبی کتابو دلیکلو یو مخصوص سبك و ، چه تر ډیرې زمانی پورې چلیدلی دی په پښتو کی د اډول سبك میا روښان را ایستلی دی او دی ئی موسس دی نو دی سبك ته موزن قافیه دار نثر او یا نیمگړی او آزاد شعر هم ویلی شو ...

## د دې دورې د عروضی شاعرانو سبك : عروض د ادبی پوهنو په ډله کښی یو علم دی چه د اشعارو اوزان او نوری ښېګڼی را ښئی د اعلم له دې کبله عروض بولی چه د منظوم کلام معروض علیه دی هغسی چه د نحوی علم د منثور کلام د تللو ظرف دی، عروض د اشعارو تله گڼله کیږی د اعلم لومړی د پلاخلیل بن احمد ازدی په (۱۰۰ ۱۷۵ه) کلو کښی ایجاد کړ ، او ټول د عرب مورخین لکه شمس الدین د المعجم ، ابن انباری د طبقات الادبا، ابن ندیم د الفهرست: او احمد امین د ضحی الاسلام لیکوال د اعلم خلیل بن احمد ته منسوب گڼی ...

هر کله چه پښتو شاعران هم په دی دوره کښی لکه د پارسو د مغلی دورې شاعران د عرب و د شعری اوزانو له اصولو څخه متاثر شوی نو لغینی عشقی اصطلاحات ئی هم منلی دی لکه می ، پیاله یار ، ساغر، ښکلی، دلربا او نورداشان دخودی او بیخودی لغات د غه اصطلاحات د زمان او مکان د طبیعی او اجتماعی چاپیر (محیط) اغیزی دی چه د پښتو په اشعارو کښی هم ننوتلی او شاعرانه عشقی جذباتو، په زیاته بیاد تصوف او عرفان په مضامینو کښی ځای نیولی او د پښتو شعر ته ئی یو گوښی سبك او اسلوب ور کړی دی د اسبك تر (۹۰۰ هجری) وروسته لومړی د روښانیانو له خوا شروع شوی، او د بایزید روښان ملگرو د عروضی اشعا رو په واسطه د پښتو ادب ته گټور خدمتونه کړی دی نو که موږ د روښانیانو د عروضی اشعارو نوی سبك دیوه گوشی ادبی مکتب په څیر ومنو بی ځایه به نوی لغکه د روښان د ملگرو شعری اسلوب دلاندی ښیگڼو لرونکی دی .

۱- د دې مکتب پیروانو د پښتو د شعر موضوع ته وسعت ورکړی او هر ډول، حماسی، عشقی، فلسفی تصوفی، دینی ، تبلیغی مضامین ئی په اوزدو اوزدو قصیدو، څلوریځو ، غزلو کښی ادا کړی او د پښتو د شعر لمن ئی ارته کړی ده ..

۲- د عرفان ، تصوف او لاهوتی عالم اصطلاحات ئی د پښتو په شعر کښی استعمال کړی او د تصوف په خورامهمو مسئلو ئی لکه

وحدت الوجود، وحدت الشهود، روحی الهام، میتافیزیك باندی دشعر په ذریعه څېړنه کړی ده ...

۳- په تشبیه، استعاره اوشاعرانه باریکیو باندی خپل شعرونه سینګار کړی اوپه ابتدائی ډول سره ئی دیدیع اوبیان دفنونو لحاظ په نظر کښی نیولی دی .

هغه شاعران چه ددغه ښونځی ملګری دی ،په لاندی کرښو کښی یادیږی .

مخلص : ددولت په قول د پیر روښان معاصر اوعلی محمد خومیدی دی مخلص دروښان خلیفه اودهرتبی خاوند بولی ،په شعر کښی هم داډول ستائی :

بی میرزا ، بی ارزانی، بی مخلص یاره
بل شاعر برابر نه دی پښتون ستایم

دمخلص یو بل ملګری دی په دی ډول ستائی :

ای میرزاله پاکو پاکه وینا وائی ☆ دمخلص کلام خالص دی معتبر شو
نو هر کله چه دولت اومیرزا چه مخلص ئی ستایلی وروسته تر (۱۰۰۰ه) هم ژوندی وو دمخلص دژوند دوره هم په دغه زمانه کښی تاکلی شو .

آخوند دروېزه په تذکره الابرار کښی اوراورتی چه قاسم علی افریدی دیوی قصیدې په حواله دمخلص ذکر کړی دی ، نورنو موږ ددی شاعر په خصوص کښی معلومات نه لرو ، اونه ئی د کلام نمونه لرو .

ارزانی : داشاعر هم د روښان ستر ملګری دی، اخوند درویزه وائی چه ازرانی دخرالبیان په لیکلو کښی هم برخه لری ، ملا ارزانی ، ملا عمر ، اوملاعلی دری ورونه ۋ په کام خوښکی له دوی څخه ارزانی د کمال خاوند اوپه پښتو ، عربی پارسی او هندی ئی شعرونه ویلی دی ، دی یو فصیح شاعرۇ ، دچهارمار کتاب هم دارزانی اثر دی ... دولت په خپل ذکر شوی شعر کښی دارزانی دادبی مقام ستاینه کړی ، خوشحال دخپل حماسی ویاړ په مقام کښی وائی :

دمیرزا دیوان می ومانده پـه گوډی
مسخره می ار زانی خو بشکی ز مندکړ

رحمان باباهم ارزانی داسی یادکړی :

د میرزا دارزانی دعوا به پریکا ☆ قدردان دشاعرانو رحمان راغی

دخو شحال خان اورحمان له یادونی څخه څرګندیږی چه ددواړو په زمانه کښی دارزانی اشعار موجودۇ ، اوداچه دروښان معاصر دی د ژوند دوره ئی د (۱۰۰۰ه) په شاوخوا کښی تاکلی شو .... مستر راورټی دخپل پښتو ګرامر په مقدمه کښی ، اودارمستتر د پښتو په (هاراوبهار) کښی ار زانی دپښتو د زړو شاعرانو په ډله کښی شمیری ـ متاسفانه د نومورې د کلام نمونه موپه لاس کښی نشته .

عبدالله : هم د روښانیانو دډلی شاعرۇ ، درویزه په( تذکرة الابرار) کښی وائی ، عبدالله ، د ملارکن الدین زوی دپښتوژبی شاعر ، اوورورئی نعمت الله هم څنی د سالی تالیفکړی دی .

میرزا خان انصاری : دنورالدین زوی د میاروښان لمسی دی مېرزا دخپل نیکه په تصوفی افکارو متاثرشوی اوفیض ئی تری پیدا کړی دی ، یو عالم اوادبی سړی ۋ ، راۇرتی وائی ، میرزا یو گرزند سړی اوپه هند ، افغانستان کښی مشهور او هرلحاظ یـی شاګردان لرل ، دی خومودہ په راچیوتانه کښی اوسېدلی او اودهغه ملک را جادعزت په ستر ګه ور ته کتل ـ میرزا پخپلو اشعارو کښی دسنسکریت څخه ځینی کلمات دقافیی دضرورت له کبله استعمال کړی دی ، ده د خپل عمر په اخر کښی واده وکړاوپه تیراکښی ئی استو ګنه غوره کړه چه دمیاخیلو په طائفه کښی ئی تراوسه اولاده شته اوخلق ئی په ښه ستر ګه ګوری میرزا د شاه جهان په زمانه کښی ددکن په جګړو کی په (۱۰۴۰ه) شهید شو ، ټول را ورونه شاعران میرزا پېژنی او دولت ئی دروښان دعلم دره بولی لکه پدی شعر کښی :

دمیرزا دنورالدین صفت به څه کړم ☆ پیر روښان دعلم ښار اودی یی درۇ

خو شحال خان ئی د پخی او تللی و ینا خاوند بـولی دمیرزا دیوان دعروضی اشعارو یوه غوره نمونه ده د خیرالبیان دسبک یـې وی نه ده کړی او معناشاعردی ، خوپه انطاظوئی دسختی اونامانوسی اعتراض شوی دی ـ دی روزنی ته راجع داسی وائی :

که بهانه په د باغبان تربیت نه وای
دغه دومره فیض به چاوړله پالیزه

په عرفانی نړی کښی دفهم اهیمت څرګندوی :

چه دروح له معرفته خبرنه وی ☆ دصورت مثال ئی نقش دد یوار وی
کل حجاب دسړی خپله ناپوهی ده ☆ د هرپالیده فهم په مقدار شی

☆ ☆ ☆

دده د تصوفی جذبا تو نمونه:

چه دیار په نامه مینه دم په دم کړم ☆ دنه یادبه ئی دخوږ خاطر ملهم کړم
عام و خاص په هسـی حال را خبر نه دی
چه په کومه تخته ښکل په کوم رقم کړم
په یکتا نظر به واړه عالم وینی ☆ کل اشیا به ورته جام لکه دجم کړم

☆ ☆ ☆

دولت : د میارو ښـان دسلسلی یو مشهور شاعرۇ ، په کام لوانی لودین دی ، دده دیوان د روښان دتصوفی مسلک هنداره ده ، دولت دروښان دکورنیو معتقددی خو دمیرزا خورا ارادتمن بلل کیږی ، دی وائی:

میرزا ګنج راته خپل کوروښود غنی شوم
بیهوده مینت به ولی دبل نا کړم

دولت دپښتو ژبې خوږ اپیاوړی شاعر دی ، خوشحال خان ، کاظم شیدا ، میرزا خان ددې یادونه کړې ، دولت ترمیرزا خان په اسانه ژبه د تصوف مسئلې په شعر کښې بیان کړې دی

د شعر ژبه ئې ساده ، او آسانه ده، په هرډول اشعارو کښې لکه قصیده ، غزل ، رباعی ، قطعه ، اونورو برخو کښې طبع آزمائی کړی اوله عهدی څخه بنه وتلی دی ، په اجتماعیاتو کښې ئې دا بیت دقدر وړ دی :

له خپل کام سره دوستی نه کا کم اصل
چه وا صل ته رجوع لری اصیل دی

د ده د شعر نمونه :

چه می ډېر ډېر یاداوه دلبر می بیاموند
لکه تبزی مستقی کوثر می بیاموند
سعادت را سره مل ؤ له از له
چه کامل واصل دحق رهبر می بیاموند
درانده په دود حیران وم په تیاره کښې
تر څو خورشید ترماه تابان گوهر می بیاموند
مسافر په ډېر کلو نو وم بې سره
اوس هزار شکر کوم چه سر می بیاموند
نندار ه د د و اړو کو نو په نفس کښې
هر سا ، بیګا کوم عصر می بیاموند

☆ ☆ ☆

بل ځای وائی :

حقیقت د عالم واړه را ښکاره شو
چه دفکر قدم کښود پر آسمان ما

☆ ☆ ☆

ددولت د غزل نمونه :

زه اول هم دیوانه وم ، دیوانه یم لاتر اوسه
له دلداره همخا نه وم ، همخانه یم لاتر اوسه
که کمکینی عاشق وش وم، غم طلب اوبلاکش وم
ددلبر دمخ په شمع، پروانه وم ، پروانه یم لاتراوسه
زه هلك وم ، افسانه وم ، له عالمه بیګانه وم
تر څلو بښتو کالو تېرشوم ، بیګانه یم لاتر اوسه
چه عاشق په جانانه شوم له اغیارو گرانه وم
تر ډېرو پښه می دسرسین ول، گرانه یم لاتراوسه
چه داخل دیار په صف شوم ، دتهمت دتیرهدف شوم
ټاهوناص ی واړه ولی نه رم، نښانه یم لاتراوسه
تل راضی ئې په قضاوم ، هم صابر ئې په بلاوم
عذر نه لرم له حکمه ، بې بهانه یم لاتر اوسه
زه فقیر دولت یرمست یم ، دآدنیا په مینه هست یم
په ازل می شراب څښلی ، دیوانه یم لاتراوسه

ددولت ژوند تر(۱۰۶۶ هجری) پورې یقینی دی ځکه په دغه کال ده، دهادی داد، دمیا روښان دنسبی مرګ ښودلی دی .

☆ ☆ ☆

واصل : دی د(۱۱ پیړۍ) له شا عرانو څخه ګڼل کیږی ، خوشحال خان واصل له دولت سره یوځای یادکړی اووائی

که دولت ؤ، که واصل ؤ که دا نور وه
په خبرو می دهریوه ریشخند کړ ،

☆ ☆ ☆

له دی خبری څخه څرګند ښکاری چه د دی شاعر اشعار هم دروښانیانو له ډلې څخه ؤ. واصل ترخوشحال دمخه له دنیا تللی دی ځکه خوشحال خان ده داسی یادونه کړی ده :

چه دمونښزه په حساب دی هیڅ می نه وی واصل هېر

☆ ☆ ☆

کاظم شیدائی داسی ستائی :

یومیرزا ، دولت واصل هم بنه کلام لری حاصل هم ،

میرزا حنان قند هاری ئی دښو الفاظو خاوند بولی (بنه شیرین الفاظ ویلی دی واصل) خو دافسوس خبره داده چه دواصل خوږ ژبی شاعر دیوان ورك دی او اشعارئی نه لرو .

دملا الف قند هاری نوی سبك او ادبی بنونځی: ملا الف د(۱۰۰۰ه) کال په شاؤ خوا کښې ژوند کاؤ، ده د اسلوب په شعر کښې دمعنا له ډېرې دخیرالبیان سبك ته ورته دی، ځکه ده د اشعار هم په دینی او اخلاقی مضامینو باندی مشتمل دی ،شعرئی زیاتره په لنډو بحورو بنا او بدیعی تکلف نه لری ،دملاالف داشعارو ستره برخه دوه ایځی (مثنوی) دی .

هرکله چه ده په لنډو بحرو باندی شعرویلی، اواوریدونکی زړتر زړه پرې پوهیږی، نو ډېرو شاعرانو ده دشعری مکتب پیروی کړی ده ، دملاالف اشعار سوچه ملی دی ده ده وه کتابه پاته دی یو بحر الایمان چه د ( ۱۰۱۹ هجری) کال دمحرم په څلو رمه تمام شو یدی دد ې اثر نمونه :

راشه وا وره اې فرزنده تا ته وایم ار جمنده
یو قدم له شر عی زو یه بهرون مه اخله نیکخو یه
که بهرون یوقدم کېږدی د نبی شرع به پرېږدی
تاته وایم زماځان ئی لاترځان را باندی گران ئی
مجلس کړه د صا لحینو ناستی مکړه دبی دینو
هر مجلس لره اثر دی
په حدیث که دی باوردی

ددوهمې نصیحت نامی دکتاب چه دتالیف نېټه یی نه ده معلومه ، د شعر نمونه ولولئ :

بل که سړی یې خوته خلق محمدی کوه تل
شیرین زبان ځلاند جبین د احمدی کوه تل

پر طبیعت د هر سړی برا بری کوه تل
چه حسن خلق به‌دی په‌کارشی له‌میزانه سره

☆ ☆ ☆

ملا الف په کام هو تك او دژوند زمانه ئی پښتا نه شعرا د(۱۰۰۰هجری) په‌شاوخوا کی‌بولی ، دملاالف دمکتب پیروان دالاندی کسان شوی دی :

۱- ملاشیر محمد هوتك ۲- شیر محمد ننگرهاری ۳ - ملا عبد الرشید قریش ٤- سعا د ت خان ٥- جان محمد ٦- ملا فرح‌الدین ۷- قندهاری حبواخوند ۸- میافقیرالله جلال‌آبادی ، دعبدالرحمن حصارکی خورا لوی عارف ؤ چه‌په (۱۱۹٥ه) په شکارپور کښی وفات شوی ، ده په پښتو ژبه د(فوائد فقیرالله) کتاب نظم کړی‌دی مگر د کلام نمونه ئی موږ څخه نشته ۹- ملا زبردست کاکړ .

اخونددروپزه : اخوند در و یزه د اخوند گد ای زوی د ی ، ده د یو لسمی‌پیړی په اوله نیمکی کښی شهرت بیاموند ،اخوند په۹٤۰ ه غالباً متولد اوپه(۱۰٤۸ه) د۱۰۹کلو په‌عمر وفات شویدی، درویزه دپښتو یونومیالی‌لیکوال ، مبلغ، عالم، متشرع ،عارف اوخورا مشهور پوهاندی ، دی پرپښتنو خورا گران اودملت له‌خوا د(بابا) لقب ورکړشویدی ، اخوند یوپ‌علمی کورنۍ ته‌منسوب او دیوسف‌زو دعلاقی په (ملیزو) کښی زوکړیدی ،داخوند پخوا نۍ نیکونه لکه جنتی، جیون، مته، احمد درغان په‌ننگرهار کښی‌هستیدل،نولدپ‌وجه څخه دی چه‌دی‌هم‌لخان ننگرهاری‌بولی خودده‌نیکه (سعدی‌رح) دیوسف زو سره له‌ننگرهار څخه(میلزو) ته‌ولاړ او هوړپ ئی‌توطن غوره کړ ،داخوندپلار (اخوند گدای) په‌چغز وکښی مېشته‌وه، اخوند دروپزه په۱۰٤۸ه‌کال مړشواودپښور په‌هزارخانه کښی‌خاوروته وسپارل شو ،هوری‌ئی زیارت‌خورا مشهور دی .

اخوند در ویزه او دده کور نۍ په پښتونخوا کښی خورا معروفه ،اوپخپله دی په(اخوندباباسره ) شهرت لری ، در ویزه دمیرسیدعلی (پیربابا) له‌مکملومریدانو څخه‌ؤ ،عمرئی‌دشریعت په‌خپرولو ،اودبدعت په‌ورکولو ، وعظ اوتبلیغ کښی تېرشوی، اخوند درویزه دواعظ ،خطیب، مولف ، مؤرخ، او لیکوال په نومو معروف او دپښتو دتا ریخ لیکلو له‌کبله ډېر حق لری ، اخوندبابا دمیا روښان، سترمخالفؤ ، له‌دی کبله‌ئی دروښان پرضد څو کتابونه لیکلی‌دی ،ددرویزه مشهور کتاب چه په‌پښتو لیکل‌شویدی «مخزن‌الاسلام» نومیږی ، داکتاب پوخ مذهبی او دینی کتاب دی چه‌دامام‌اعظم په‌مذ هب مطابق عقائد او شرعی احکام پکښی لیکلی‌دی، دمخزن د پښتو سبك دخیرالبیان‌دسبك په‌څېر نیم عروضی مسجع نثردی ، په‌مخزن کښې پوره عروضی اشعار نشته ،مگرمیراحمدشاه‌رضوانی په خپل‌اثر(بهارستان) کښی داخوند دروپزه دغه لاندی مثنوی مو عظه لیکلی‌ده چه خورا روان نظم گڼل کېږی .

ددرویزه‌مثنوی

دا بنه واوره څماور وره — فضیلت دصبر گوره !
صبر بنه‌دی په‌هر کار کښی — ولی زیات په‌دی‌روزگار کښی؟
چه ماتم و چاته پښ شی — ور پیدا دخاطر بر پښ شی
که‌ئی‌زوی وی که‌ئی لوروی — یائی ورور یائی تر بوروی
یائی پلار وی یائی مور وی — یائی بل‌مین څوك نور وی
چه سفر وکانه‌دی جانه ! — لاړ شی دی لدی جهانه
رضا مند دخدای په کړه شی — که ژړا کړی په داځه شی؟
خدای له‌دی‌بنده ای وروره
رضامن وی ډېر هر گوره

داخوند دروپزه یوبل کتاب «تذکرة الابرار والاشرار» نومېږی ، دا کتاب په‌پارسی ژبه لیکل شویدی ، یوتاریخی کتاب دی ، دی‌د «ارشادالطالبین» په‌نامه‌یوبل کتاب هم‌لری پروفیسر دورن روسی ، اخوند دروپزه دپښتو ژبی یو مشهور لیکونکی اودخوشحال بډه ئی گڼی ، دروپزه دپښتوژبی‌دادب په‌نهضت کښی یوپیاوړی رکن بولی ، هو! دپښتو دادب په‌باره کښی داخوند دروپزه اوددده کورنۍ خدمت خورا څرگندشی دی ، اوددوی د لیکنو اوزیار زحمت په‌اثر پښتو ژبی ذخیره پیدا کړی ، اوداخوند له شاگرد انو څخه هم ډېر کسان‌دپښتو دا دب خدمت ته‌چمتو شویدی ، لدې کبله اخوند در ویزه هم دیوه ادبی مکتب خاوند ، اوپاونکی باله شی ...

که څه‌هم داخوند ، اوددده دکورنۍ نشریات په‌پښتو کښی مذهبی ډډه‌لری ، اوپه نورو ، ادبی ډډو کښی څه لاس ته‌نه دی راغلی ، امادابرخه‌ئی هم دموضوع له کبله خورا موثره بلله کېږی ، دمخزن دنثر نمونه لاندی ولولی :

۱ - (عمر نسفی هسی ویلی مبرهن دی ، چه صوفیان دحق دوستان دی ، هم‌دزړه په‌پاك کردن دی .

۲ - دروپزه چه‌عقائد په‌پښتو ووی ، شفقت یی ژبر لوی، هلك ، پرآزاد ، پربنده ، اوهم به واړه پښتو نخوا ، اوهرچه دوی به‌دا کتاب په‌زړه کښی‌لحای کا .

۳ - خدای په هرژبه بوله ، عربی وی ، که پارسی وی که‌هندی‌وی، که‌افغانی‌وی، په‌هغه‌ژبه‌ئی بوله‌چه‌دی‌زړه‌وی‌دااقوال داماما نو،اوس اکثر عالم داوایی چه‌قرن په‌عربی‌دی ،په‌ناحق فرض،واجب پښتو کوینه ، دوی‌په‌دا وینا لغزېږی، نه‌پوهېږی، دغه‌خوی دجاهلانو ).

که‌څه‌هم دمخزن نثر ټول په یوشان نه‌دی ، په لحینو لحایو کښی دوزن التزام ډېراوپه‌لحینو لحایو کښی‌دقافیې ساتنه زیاته لیدله کېږی خوبیاهم غالباً جملې‌ئی موزونی راڅی ، نوپه دې

اړخ کښی د خیرالبیان له‌سبك شخه‌فرق لری ، بله ممیزه یی‌داده چه خیرالبیان ټول په‌یوه روش لیکل شوی ، خوپه مخزن کښی عروضي اشعار هم شته چـه‌د اخوند دروپزه او لادې اوداخوند شا گردانو پوری تړلیدی .

داخوند دروپزه د«مخزن» قلمی نسخی خو را ډېری دی‌چه هرځای پیدا کېږی ، په‌هند کښی چاپ شوی هم دی ، یوه نسخه ئی‌چه‌په (۱۰۲٤ه) کال کریمداد کښلی‌ده دلندن په‌برتش موزیم کښی خوندی ده .

عبدالکریم : په‌کریمداد معروف داخوند دروپزه زوی‌دی، عبدالکریم یومشهور عالـم اوعارف پوها نـدۏ ، دتصوف او عرفان په‌خوا کښې‌ډېره برخه لری، دی اخوند دروپزه د«مخزن» ټوللوونکی‌دی ، کریمداد په‌مخزن کښی پخپله هم شه‌برخه لری، ده ته‌ډېر پوهان دپښتو محقق هم وا ئی ، که شه‌هم دخپل پلار په‌سبك روان دی ، مگرددرویزه په‌سبك کښی‌ئی دفکر اولفظ‌له پلوه شه اصلاحات هم کړی‌دی ، کریمد اد عشقی اشعارهم لری او کلام ئی دښپېړ عر وضی‌شعر رنگ لری د ده خو بیته د پښتو دادب په‌دوهم ټوك کښی راغلی‌دی :

هرځوك له‌خپله سوزه شه و یېږی
چه‌بی سوزه گفتار نه‌دی چا لیدلی
شاعری په مثال بحر که پوهېږی
کوم شاعرئی له گردابه را وتلی
نـا قـص تـښـتی لـه ا غـیـا ر ه
او عارف له خپله ځا نه تښتېد لی

وائی چه کریمداد په (۱۰۷۲ه) وفات شوی دی ، قبر ئی دسوات په‌کانجو کښی اوپه‌شهیدبابا ، شهرت لری ، د کریمداد تالیفات دالاندی آثاردی :

۱ ـ تحفة‌الخانی ـ د کوم‌عربی کـتـاب پښتو ترجمه ده .
۲ ـ فقه کریمداد ، د فقهی دمسئلو یو کـتـاب دی .
۳ ـ په‌مخزن کښی هم‌دی‌یوه ستره برخه لری .
٤ ـ دعبدالکریم مکتوبات چه‌په پارسو لیکل شوی دی .

خالقداد : داخوند دروپزه زوی دی ، دی‌هم دپښتو شاعراو لیکونکی‌ۏ ، خالقداد یو کتاب د(شرائط واحکام‌ایمان) په‌پښتو نظم کړی‌دی ، دده نور شه‌لاس نه نه‌دی راغلی .

عبدالحلیم : داخوند‌دروپزه لمسی‌دی، پلارئی عبدالله‌نومیده دمخزن په‌نسخو کښی‌دده‌اشعارهم لیدل شوی‌دی ، خودنومورې اشعار عروضی سبك ته‌ورنژدی‌دی، که‌شه‌هم په‌اصل کښی‌دخیل نیکه دسبك پیرو گیل کېږی ، د عبد الحلیم خو بیته دادی :

شهېرډېـر غشی روغ کـړی عاشقان ئی دی نو مـورې
دوی و یشتلی‌پـرغوند زړه‌دی پـر میدان ورته وړ غړی
عاشقان دا یـم پـه کـا ر دی د وصلت‌تـا رونـه غـړی
د وحدت له‌شنه در یـابه شنه در ونه ئی راوړی

☆ ☆ ☆

مصطفی‌محمد : د کریمداد لمسی او دنور محمد زوی دی ـ دی‌هم د«مخزن» په ملحقاتو کښی برخه لری، اودخپلو نیکونو په‌پیروی ئی اشعار ویلی‌دی ـ ددرو یزه دسبك پیرودی، مصطفی محمدپه(۱۱۱۲ه)کال دوهم‌ځل مخزن ټول کړی‌دی ،دده‌دوه‌بیته لاندی و لولیء :

الا غو ندی تر غـا ړه یگانه محبو ب و غواړه
یگانه محبوب به‌مومی که ته و شلیږی له واړه

ملا اصغر : داسړی داخون در ویزه ورور دی ، ملا اصغر هم ملاهم شاعر ۏ ، د«مخزن» په‌اخر کښی دده یومات او گوډ شعر لیکل شویدی چه مطلع یی داده :

واریء یـار انو نبی نا ست په جما عت ۏ
جبرئیل‌ۏ ، پرې‌راغلی له‌شه خدایه‌پرې رحمت‌ۏ

☆ ☆ ☆

عبدالسلام : داسړی داخون درویزه له‌شاگردانو اوپیروانو شخه حسابېږی، د«مخزن» په یوه نسخه کښی یې دوینا نمونه لیدل شویده ـ شعر یی عروضی ډډی‌ته نژدی‌دی خونورمعلومات یی‌لاس‌ته نه دی راغلی دنوموړی د کلام نمونه داده :

(یو ویی به‌درته‌وایم دصدیق دبز رگی درسول له‌جماعته
چه‌صدیق‌ۏ سرحلقه‌داولیاۏ دغه لوی بخری‌موندلی‌له‌رحمته
دوهم عمر فاروق دی چه‌مکه‌یی کړه وزگاره، له‌کافرۏله‌بتانو
په‌یکلخته ـ دریم عثمان ذی‌النورین دی چه درست کار وان
یی‌ۏ دخدای په‌رضا اښیء چه‌خبرشودرسول‌له نبوة ـ خلورمی مرتضاعلی‌دی ، چه‌به‌دی په دلدل سور شو (شه) دغه کافران‌ئی مړه ۏ له هیبته)

عمرخان : ددې‌سړی اشعار دمخزن په‌یوه‌نسخه کښی راغلی دی، داسی څرگندېږی چه ددرویزه له پیروانو شخه دی ځکه اخون پخپله تذکره کښی وائی چه‌ملاعمر شلمانی زماشاگرد ۏ، دعمرخان وینا کټه مټه لکه داخون در و یزه و ینا غوندی ده لکه‌چه وائی :

دابیان اخون ویلی په‌پښتو ۏ ومعنی‌ئی هرچاویلی نه شوه
بیچاره عمرخان چه‌ورخبر شه تار په تا ر معنی‌ئی وې
دی‌فاسق‌پراگنده‌په‌مخلوقات کښی پرده فهم‌له‌څېښتنه‌عنایت‌دی

میرخان : ددې سړی نوم او کلام هم دمخزن په‌یوه نسخه کښی‌لیدل شوی‌دی ،دی د کریمداد شاگرد معلومېږی ـ میرزا حنان دمیرزا اردولت په ډله کښی دسلوك شاعر بللی‌دی :

یو میرزا، میرخان، دولت دعلم کان وو
د سـلوك شعر ئی کـړ ی د ی افضل

شیرمحمد : ددی سړی‌اشعار هم‌دمخزن دیوې نسخې په‌اخر کښې راغلی‌دی ، داسی ښکاری چه داخون در ویزه د اولادی له‌شاگردانو څخه ؤ په‌اول جلد پښتانه شعراؤ کښې راغلی چه دی دننگرهار دخوا یوطالب العلم ؤ ، اوډېر دینی او اخلاقی اشعار یی و یلی دی دا قطعه دده له اشعارو څخه ده :

یاگوښه وأی له سړ یو — پر اسما ن سحاب وای
یاعاشق وای پرمهرویو — یامعشوق لکه‌مهتاب وای
چه نه داشو نه هغوشو — شیرمحمد کشکی‌تراب وای

دعلم په باره کښې وائی :

علم فرض دی له طا عته — پر مېړه هم په عو رته
سکه طلب د علم بو یه — نتیجه یی ډ پر ه لو یه
چه طـلب د علم نـه کا — دغه عورته به څوك‌څه‌کا

رحیمداد : داسړی هم‌داخون درویزه له‌اولادی او کورنۍ څخه‌معلومېږی کېدای‌شی چه‌یائی زوی یا نمسی وی، دمخزن‌په یوه‌قلمی نسخه کښې چه‌په (۱۱٤٤ه) لیکل‌شوی ده دده یوخورا خوږ نعتیه شعر راغلی‌دی چه یوڅو بیته ئی دادی :

تر شیرین اسم د ی جـار شم محمده
سر افر از دی په دید ار شم محمده (ص)
سعادت د دوا ړو کـو نو زما دا دی
کـه دی خاورې د دربـارشم محمده
درمی بو له چه در شم ستـا تر دره
تر پنجرو به‌دی بلهار(۱) شم محمده
سته ئنا به د لـو یې ر و یلا ی نشم
کـه بلـبله د سـپـا ر شم محمده
ستاله‌جامه‌جرعه‌راکړه چه‌یی‌نوش کړم
سـر تر پا یه په خـما ر شم محمده

☆ ☆ ☆

عبدالرحیم : دمخزن په‌دغه وړاندی نسخه کښې ددې سړی شعرونه‌هم راغلی‌دی ،مګر په‌یقین‌سره نه‌ده معلومه چه‌څوك‌ؤ ؟ داحمد شاه بابا په‌زمانه کښې یوبل عبدالرحیم نامی شاعر هم موږته معلوم‌دی (چه وروسته به‌ئی حال وکاږو ) مګر ددې او دهغه داشعارو په‌منځ کښې خورا ډېرفرق موجوددی ، نو ښایی چه‌داسړی پرته له‌هوتك عبدالرحیم څخه بل‌عبدالرحیم وی، او داخون درویزه په‌کورنۍ اوپیروانو کښې داخل‌وی- کلام‌ئی دمخزن سبك ته ورته دی لکه چه وائی :

دعـهسی ښایسته بشری شوې توری خاوری
چه‌په ښـایست ئی‌مخی نه‌وو دپسرلی گـلونه
دادسمند سواره‌یی‌پری‌یاسته پرځمکه بـاندی
په‌ډېر ارمان‌دگور بندیان شول‌زلمی ناوی‌جونه
دا ددامان آهو به‌خلاص نه‌شی په نیښت له‌مرگه
نه‌به‌پر ، ورځینی خلا ص شی دهوا مر غونه
داددریاب مایان به‌څوله مرگ غړېږی هلته
چه‌پـه هر لور یې چاپېر شو د قضا جـا لونه
یوه‌ذره دمحبت وعبدالرحیم ته‌ور کړی‌ای خدایه
چه‌ستا بی‌یاده‌ئی نور نه‌وی په‌زړه نور فکرونه

☆ ☆ ☆

احمد : دمخزن په‌دغه‌وړاندی نسخه کښې ددې‌سړی شعرونه هم‌لیدل شوی‌دی ،د(۱۱٤٤ه) کال په‌حدودو داحمد په نامه موږ ته‌کوم بل‌شاعر معلوم نه‌دی ،نولحکه‌دی‌داخون درویزه پیروانو شاگردانو څخه ،ددولسمی پېړۍ داولی‌برخی شاعر بولو، دی دجنت په‌بیان کښې دقصیدی په بڼه یواوزد شعر لری چه یوڅو بیتو نه ځینی دلته را اخلو :

جنت‌ئی جوړ کړ په زیړ گلونه — چه‌په کښې ناستی د جنت جونه
کنګری‌یی‌روغی کړی‌دسروزرو — شهدوشکر دی په کښې رودونه
زلمی به واړه دپرش کلن و ی — جونی به کـمی تر شل کلونه
جو نه په ناستی پر زلچو و ی — چنګونه اینی پر با لښتو نه
نه به زړی شی نه به بد رنګه — هـمی به تل وی د جنت جونه
جنت گلزار د ی جو نی بلبلی — زلمی توتیان دی پر چغارونه
احمده ژاړه د یدار بی غوا ړه — دید ار بهتر د ی تر جنتو نه

☆ ☆ ☆

اخوند قاسم : داسړی دپښتو له مشهورو کسانو څخه دی یو کتاب یی چه(فوائدالشریعه) نومېږی دمخزن‌الاسلام پرسبك لیکلی‌دی ، دفقهی اوشرعی مسئلو بیان کوی، داکتاب په پښتو کښې‌خورا شهرت‌لری ، اوپښتنی میرمنې‌ئی په‌کورو کښې‌وائی ، اخوندقاسم دشنوارو پاینخیل دی، مستر راورټی وائی چه‌دی‌په اشنغر اویوسف زو کښې اوسېده ، دده دژوند زمانه ښه نه ده معلومه ،مګرده په‌یوه ځای کښې داخون درویزه او د کریمداد شهید ذکر داسی کړی دی :

اخونان شهیدان واړه خدای پیدا کړه
چراغونه ؤ په پښتو ئی دین بیان کړه

له‌دی څخه معلو میږی چه دی د کریمداد له مرگ په وخت کښې (۱۰۷۲ه) لا ژوندی ؤ دفوائد الشریعه یو ه نسخه چه‌په (۱۱۲۵)ه کښې لیکل‌شوی‌ده دلندن په‌موزیم کښې شته داکتاب چاپ شو ی هم دی .

بابو جان : بابوجان هم دخیرالبیان او مخزن الا سلام یو ادبی پرودی ،دی‌تر(۱۰۵۰ه) څخه‌وروسته ژوندی‌ؤ، اوداخون درویزه دزامنو معاصر دی :

مستر راورټی وائی چه دی د تورستان له کافرو څخه ؤ چه ورو سته بیا مسلمان شوی دی .

میراحمدشاه‌رضوانی هم‌وائی ، چه دی له‌دغه ځایه څخه‌یوه ملاپه لوټ کښې‌راوستی ؤ .

ده که‌څه‌هم دخیرالبیان په‌سبك اشعار ویلی‌دی، مګرخپلې خالص عروضی اشعار هم لری، وائی چه‌دده قبر پـه یوسف زو کښې مشهوردی، هلته‌ئی لمسی هم شته، اودده قلمی دیـوان ورسره دی دبابوجان ځینی اشعار مستوراورقی په (ګلشن روه) کښې انتخاب کړی‌دی، قاضی میراحمد شاه رضوانی هم په‌شکرستان کښې یوځه راوړی دی اشعارئی ټول اخـلاقی او مـذهبی دی، داځوبیتونه دده له‌اشعارو څخه دی :

دحاتم نوم بـه جاری وی تر قیـامته
د ازل بخره ئـی وه لـه سخـاوتـه

حـاجتمن به نـا امیده نرینه ، نه ملـو
ور ګـول ئی ؤ بی اجـره بـی منته

دسوالی زړه به‌ئی روغ په مرحبا کړ
ګاهـل نه ؤ فقیرانـو له خـدمته

په ښارونوئی نرم ولاړ د سخاوت شو
پـاد شاهان بی په غصه شول له‌شهرته

همت دخدای له خزانو دی بابو جانه
همت ناك دی څښتن نه ګا بی همته

☆ ☆ ☆

دبابوجان یو کـتاب په برتش موزیم کښې موجود دی ، چه (۹۲) مخه لری، بل‌اثرئی دعای سریانی ده ، یوبل زوړ قـلمی کـتاب بی چه‌ددین اواخلاقو پرموضوع لیکل شوی او سبك ئی نیم منظوم دی هم لیدل شویدی .

دخوشحال خان خټك ژوند،اودده نوری ادبـی ښـونځی :

خوشحال خان دشهباز خان زوی دیحیی لمسی د ملـك اکوړی کړوسی ؤ، په‌خټه خټك اوخټك دښتنو دکړان او بیاد سربن له‌قبیلی څخه بوه‌پښه‌ده، تاریخ مرصم، حیـات افغا نـی ، مخزن افغانی‌اونورو مورخینو، دده‌تعریف‌همداشانی کړیدی دا کوړی پلار ملك چنجو داکبر پاچا په زمانه کښې (۹۶۳ - ۱۰۱۴ه) یومشهور خان ؤ چه اکوړه ئی ودانه کـړه ، دحیات افغـانـی په قوم سرای‌هم دغه اکوړه ده، دخوشحال‌خان پلار د جهانګیر په‌زمانه کښې دښتنو ستر خان ؤ خوشحـال بـه (۱۰۲۲ ه ) دربیع‌الاول په میاشت کښې په‌اکوړه کښې تولد شو، دده پلار شهبازخان به ۱۰۵۰ ه کال په‌یوه جګړه کښې ټپی او مړشو، خوشحال خان ئی پرځای خان شو، خوشحال خان‌دډهلی پاچا شاهجهان هم په خانی ومانه، خوشحال‌خان دتارا ګډه کـوټ دشاهجهان په‌طرفداری مات کړ اوپه‌لاهور کښې دخلورو لکو روپو ، اوادونیمو لکو پټی خاوند شو خوترشاهجهان وروسته عالمګیر اورنـګ زیب دخوشحال خان سـره د ښمنی څخه کړه اودی‌ئی په غوړه ژبه خپل دربار ته وغوښت خوچه پښور تـه ورغی دپښور مغولی حاکم دی بندی‌کړ او ددربار په نغوتـه ئی دهلی ته واستاؤ، اود (۱۰۱۴ه) کال دروژی د میاشتی پـه منځ کښې دهلی ته ورسیدی اوترخلورو کالو پوری هوری بندی پاته‌شو هرکله چه‌دی په‌رښتیا یوملی شاعر اودکام په‌غم‌غمجن‌ؤ ، ؛ـپدی لاره کښې‌پرزحمتونه‌وګالل ترهوچه‌ئی د پښتو په‌ننګ توره ترملاکړه، اوله اورنګ زیب سره ئی تر مرګـه دښمنی وپاله، خوشحال‌خان له‌توری سره قلم‌هم درلوده، نـو د شعر او شاعری بازارئی تودکړ، اواباسیند په‌څپر په جـپوراغی ، ده دخپلو حکړو بیان دپښتنوالی درانه خو یونه، سپیڅلی اخلاق ، اجتماعی ژوند په‌شعرسره ولیکل ، پښتانه‌ئی وحدت ، اتفاق ته را وبلل اوهرډول فلسفی، وطنی، تصوفی، اجتماعی ، اخلا قـی، عشقی مضامین ئی په‌شعر کښې بیان کړل د خان حماسی اشعـار خورا مهیج اودمېړانی جوهـر دی، خو شحال خان د پښتو دادب ستر استاذ،نومیالی ادیب‌تکړه شاعر، دملیت‌پتنګ ، دپښتنوالی لیوال ، زبردست مفکر اوسیاسی مېړه دی، دشعرخځه ناځاسوا دپښتو په‌نثر کښې هم دلوی لاس خاوند دی، دی د پښتو دنثـر دنوی دورموسس ګڼل کېږی، ده دپښتو نثر د خیرالبیـان او مخزن له‌سبك څخه راوړ ؤ، اوساده روان دمحاورې طرزئـی ورکړ ، پدې لحاظ خوشحال‌خان په‌نظم اونثر کښې د نوی‌سبك خاوند اودکوښی‌مکتب څښتن‌دی، خان دپښتو ژبی یوپوخ شاعر قوی لیکوال، یوه مورخ اومعروف مولف بلل کېږی، د یورپ پوهان هم‌دی یوستر ملی شاعر بولی، خوشحـال‌خـان دپښتو د کلاسیکی ادب استاذ، او دنوی ادبی مـکتب مؤ سس دی دده په‌دی ادبی ښونځی کښې ډېر خلق روزل شوی دی ، دده ټوله کورنۍ دعلم اوادب کورنۍ ده ، ده په‌پښتو اوپارسو کښې ډیر اثار لیکل دی زا ور ټی دخان اثار تر (۲۰۰) هم زیـات بولی چه مشهور کـتابونه ئی دادی :

۱ ـ دپښتو داشعاروکلیات‌چه (۴۰) زره‌بیته‌لری(۲) دپښتو تاریخ چه اوس ورك دی (۳) عیار دانش دانوارسهیلی پښـتو ترجمه ده (۴) دپښتو هدایه چه‌له‌عربی څخه‌ئی‌ترجمه کړی ده

۱ ـ دعیار دانش دنثریوه نمونه لاندی ولیکله شوه :

«پادشاه ووی په‌دی‌حکم کښې له‌ماخطا وشوه او خبره په حال دقهر کښې زماله خولی وختله ولی بایده‌ده چه تـاپه‌هغه چاړې کښې‌دغه‌رنـګ‌تأمل په‌ځای‌راوړچه‌لائق دحال دناصحانو دی، یوه ورځ دباغ‌څښتن ناست ؤ په‌تماشا د ګـلونو بلبله‌ئی ولیده چه‌مخ به‌یې په‌پانړو دګل‌میښ‌اوپه فریاد،فریاد به‌یې پرې ناړې وهلی ورق زرنګار، دګل‌به‌ئی په‌ټبره مینو که یو تربله جدا کاؤ» دانثر روان آزاد، مرسل نثر او محاورې ته نژ دې دی، مګر په ځینو جملو کښې لـکه تأمل په ځای راوړ «ورق

زرنگار» دپارسی اغیزه‌معلومیږی ، خوشحال خان په(۱۱۰۰ه) وفات شوی اوپه سرای کښې ښخ شو .

دخان‌شعری‌سبك یوخومیزات : خوشحال‌خان په شعر کښی

ډیر مقلدنه‌دی ، یومبتکرپښتون ادیب‌دی- وینائی‌ساده او خوږه ده، په‌شعر کښی نوی‌نوی مضامین‌لګایوی- دی‌مغلق شعر نه‌وائی، وینائی دپښتوله‌محاوری‌سره‌سمه‌ده ،دی‌خورا بدیع‌تخیل په ساده الفاظو ادا کوی ،ده‌شعر په اقسامو کښی مثنوی، رباعی، قطعه، تخمیس ،تسدیس، ترجیع ،ترکیب ،ځینی مربع او معشر اشعار ویلی‌دی ،خوراانتقادی اورښتیا ویونکی شاعردی دتنقید ژبه‌ئی خورا تهره‌ده دی‌وائی :

زماژبه نده اور ده  گزا رونه دتوپك کا

☆ ☆ ☆

آفرین دی‌په‌وینا شه خوشحاله  چه‌دلوړې‌رژول کړی‌په‌قلم کښی

☆ ☆ ☆

حماسی :

چه څرګنده سر بازی کاندی د تورو
زه‌خوشحال خټك ترهسی هنر جارشم
لاپه‌خوب کښی په‌لږه پرېوزی له کټه
چه دچاترغوږ زما دتوری شرنګ‌شی
د پښتون په ننګ می و تړ له توره
ننګیالی د زمانی خو شحال خټك یم

☆ ☆ ☆

اجتماعی :

و ګړی واړه کا رونه خپل‌کا  مرد ان هغه‌دی چه‌کار دبل‌کا
خوك‌چه‌ارام‌ګټی‌دنیکونام‌ګټی  د خوږو زړونو دارو به‌تل‌کا

☆ ☆ ☆

بنیاد دچا ری پر مصلحت دی  بیا د مر دانو په ښه همت دی
چه سره یوشی دا دواړ توګه  واړه‌دولت‌دی ، عزت حرمت‌دی

☆ ☆ ☆

عشقی :

توره چه‌تېرېږی خو ګذار لره کښه
زلفی‌چه‌ولول‌شی خوخپل‌یارلره کښه
ولی‌راته وائی چه‌په‌ښکلو نظرمکړه
ستر ګی چه پیدادی خو دیدار لره کښه

☆ ☆ ☆

تصوفی :

که مسجد ګوری که‌دیر  واړه یو دی نشته غیر
یومی‌بیاموندپه‌هرڅه کښی  چه می‌وکړ د زړه سیر

☆ ☆ ☆

هغه ځای په سیر ګرزم  چه‌تړې نه رسېږی طیر
خوشحال‌یووینی‌خوشحال‌دی  ورنه ورك دی غیر و زیر

☆ ☆ ☆

غزل :

په کا ته کا ته می ستر ګی په خا ته شی
چه خبر دی د راتلو را باندی و شی
ته خو او س له مانه و لاړی مر ور شی
دا زما یا ری دهم کو ندې په زړه شی
چه دیدن د محبوب و کړمه تا زه شم
لکه کښت چه په باران باندی او به شی
ګوره تارا باندی کومی کوډی و کړی
که په‌پښو در ځینی د رومم زړه می ونشی
په ار مان دهغه وخت یم در یغه در یغه
که د ز نی سیب ئی بیازما په خوله شی
دخپل یار د جدائی یو هسی کا ر د ی
لکه روح چه له و جو ده په وا ته شی
بخته‌هومره مدد بیامدد بیا راسره و کړه
چه‌په‌غېږ کښی می بیاتللی‌یار و یده شی
د خو شحال سلام په واړو ښو یا را نو
ګو ندی بیا موپه لیدو سره زړه ښه‌شی

☆ ☆ ☆

جمال خان : دخوشحال خان مشر وروړو ،جمال خان دپیر رحمکار(کاکاصاحب) مرید ، او دخپل پیر په خوارقو باندی یو کتاب‌لیکلیدی چه دپښتو ټولنی په کتابخانه کښی موجود دی دی‌لوی‌ولی اوسترمتصوف تېرشویدی ، زیارت‌ئی‌اوس‌په‌فقیرابابا مشهور دی، جمال‌خان لکه‌محمد اجمل خان خټك چه لیکلیدی دپښتوژبی شاعراودیوان لری، اشعار ئی دپیر رحمکار دخوارقو په کتاب کښی راغلیدی .

اشرف‌خان‌هجری:دخوشحال‌خان‌مشرزوی‌دی چه‌په(۱۰۴۴ه) کښی زېږېدلی‌دی دی‌هم دخپل پلارپه‌شان یو تور یالی پښتون اوادیب‌ؤ ، خوشحال‌خان پخپله‌ده دتوری اومیرانی ستاینه‌ډېره کړی‌ده، داشرف خان دشعردطبیعت زورهغه مهال ښکاره شوچه په(۱۰۹۳ه) کښی اورنګ‌زیب دکن‌ته‌بندی‌بوت ، هلته‌به‌ئی‌تل دوطن اوخپلوخوږویارانو په‌یادشعرونه ویل لکه چه‌وائی:

اوس به‌څه دوطن کانې بوتې ژاړم
چه اټك و ته می شاکړه په ژړا شوم

هجری دخوشحال په ادبی مکتب کښی دلوړ مقام خاوند دی، ده‌دشعریودیوان درلود مګرنسخی ئی‌لږ پیدا کېږی وائی چه‌یوه قلمی‌نسخه‌ئی په برتش موزیم کښی شته، دهجری هرڅو اشعارچه‌لیدل شوی‌دی هغه‌عشقی، اخلاقی، وطنی ډډی لری، دی دسپین‌ږیری‌توب په‌مهال کښی په(۱۱۰۵ه)دبیجا پورپه کلا کښی

وفات شوی‌دی، داسی‌روایت‌کاچه افضل‌خان بیا دده مړی له (بیجاپور) څخه‌سرای‌ته راوړاو هوری‌ئی‌دفن‌کړ، دهجری یوځو بیتونه‌دادی :

داروا‌ح د کوچ‌نیلی په‌زړه کښی زین شول
چه‌په زنه‌می وښته‌دشباب سپین شول
دخوانی‌ږ بهارچه ولپښ له بدنه
دپېری‌ږ په‌خزان تور وښته زرین شول
هسی‌وینی‌می غم توئی کړی له ستر گو
چه‌مې نمری‌دصورت همه رنگین شول
غوغا مکړه دگردون له کش مکشه
لومه کلکه کامرغی‌ږ په اضطراب
دننکار طمع هر کز له سبا مکړه
سباگوره هویداشی دکوم کارمخ
آه وسوز می باطل مگنه در وښته
ستر گی هله کا زړاچه زړه په درد وی
تخت وتاج ته‌به سر کوز دهمت نه کا
چه په دا ددهر پوه آزاده مرد وی
دامحال دی چه شاعر به په پښتو کښی
بل‌هجری غوند په فن کی دشعر فرد وی

عبدالقادر: دخوشحال‌خان زوی اوخورا نو میالی ادیب دی په تصوف اوعرفان کښی لوی لاس لری، دی د خپلی کورنی‌ږ اودخوشحال‌خان‌دښو نځی‌یوروښان‌ستوری‌دی دی‌پس له‌خوشحال څخه په‌پښتوادب کښی دوهم‌ادیب او په‌نظم اونثر کښی پیاوړی لیکوال‌دی ډېر آثارلری، میراحمد شاه رضوانی وایی عبدالقادر یوخوزڼی اونکته سنج ؤ ،ده‌عشقی، تصوفی، اخلاقی‌اواجتماعی اشعار ویلی‌دی خوپه‌ټولو کښی‌ئی د تصوف برخه درنه‌ده شعرئی ساده اوسهل ممتنع دی، دی‌خپل‌اشعاردزړه وینی بو لی وائی :

رنگینه‌شعرمی‌مه گنه‌الفاظ ☆ داروان‌زماله‌زړه‌دوینوروددی

عبدالقادر په (۱۰٦۱ه) کښی پیداشوی او تر (۱۱۱٤ه) پورې ژوندیؤ ډېر تالیفات لری ، مستر‌راوُرتی دده (٦۰) کتابونه یادکړی اومشهور آثارئی دادی :

۱- داشعارو دیوان ۲- گلدسته دسعدی دگلستان پښتو ترجمه‌ده ، قلمی نسخه ئی‌په بریتش موزیم کښی پرته‌ده۳- یوسف زلیخا نظم‌دی ٤- حدیقه‌خټك‌په‌نظم‌ده ددې کتاب هغه نسخه‌چه دعبدالقادر په‌خپل خط وه (محمد هوتك لیدلی وه) نصیحت‌نامه دده‌دغه رباعی‌خورا خوږه ده :

که‌سین‌اوسره‌ئی په کور کښی تل‌وی
چه‌نه‌ئی علم نه‌ئی عمل وی
بنیاد ئی نشته آخر به خوار شی
بخت به‌ترکله‌ورسره مل‌وی

☆ ☆ ☆

وخت دخزان ؤ، ومی لیدلی
یوځو بلبلی چه ژړېدلی
خواړې‌خسته‌وی ، وی‌می‌سزائی
چه بی گلو نو و پائدلی

☆ ☆ ☆

غزل

دریغه نور غمونه لری‌شول لدو له
پکښی غم دخپل آشنای دی تل ترله
شبنم وصل دگل بیاموندہ خا موش شو
تری‌محرومه شوه چه شور کا ندی بلبله
ښه چه ژبه دی قلم شوه په مجلس کښی
شمعی تاچه دخپل سوز قصه ویله
عاشق هیڅ نه ؤ خبر دعشق له سوزه
دا لمبه پری معشوقی ولگوله
دفانوس په‌پرده څراغ کله پټېزی
که ئی مخ په پلو پټ ؤ مالېدله
په‌ماتم‌دپروانه چه ئی ځان وسو
شمع اور په تندی بل کړلرزېدله
درسته شپه‌دی په نارو عبدالقادر کړ
ته ببغمه په پا لنگ باندی څمله

صدرخان : دخوشحال‌زوی اود پښتو ژ بی شاعر ؤ، داشعارو دیوانئی پادری هیبوز انگریزلیدلی‌اواقتباسات‌ئی‌هم‌ترې‌کړی دی صدرخان‌دخوشحال په‌ادبی ښونځی کښی‌له‌هجری‌اوعبدالقادر خان‌څخه‌وروسته‌مقام‌لری .خو‌بیاهم‌صدرخان‌لکه‌خپل نورورو نه یوادیب اوشاعر اوپوه پښتون‌دی چه پخپله اندازه دکلام په‌متانت اودشعر په‌پوخ والی شهرت لری، دده ژوند عاشقانه دی‌دمینی دنیاسوی، اوپرخوږو راضی‌دی، دی دعشق یو لوست ترهٔولو علومو کافی گنی‌وائی:

دعشق یو سبق کافی دی نور دکل جهان دفتر هیڅ

دده دغزل نمونه :

لکه زړه چه‌زماوسوستا په غم کښی بهلتون هسی
مشه‌وریت د جدائی په‌اور کښی بل یولړمون هسی
خط په‌مخ دښایسته ؤ د قضا نښی هم داسی
هر کمال‌زوال‌پذیردی ددی‌خط دی مضمون‌هسی
لکه زده دی ستا دستر گو دجهان په مخ دلبره
نه دی هسی چالیدلی جنون هسی افسون هسی
لکه‌مادیار په‌غم کښی وجودوسو بیاژوندی شوم
هیڅ‌پتنگ مندلی‌نه‌دی له خزانه ژوندون هسی
پرون‌سور په انبالږ کښی نن په کټ دجنازی ځی
دادنیاده دائی دوددی چه نن هسی پرون هسی

چه تاوینی ګل ته ګوری او به وینی تیمم کړی
په همه مذهب مردوددی که څوک کاندی تیبول هسی
لکه موج په بیلتانه کښی زمازیره وهی له ستر ګو
په داموج کله بهیږی جیحون هسی سیحون هسی
ستا خولب عبدالقادره پدا رنګ صدر خوشحال کړ
خو بی خانه زه ویل کړم بل ته نکا پښتون هسی

سکندر خان : داسړی هم د خوشحال خان له زامنو څخه دی اودخان دښونځی یوکلك ادیب دی دیوان ئی ورك شوی ، یوازی پادری هیوزدده یوغزل په کلیدافغانی کښی را اخستی دی خوږ اوعشقی دی، وائی چه ده دمهر اومشتری په نامه یو رومان نظم کړی دااشعار دده دی :

مغنی ګوتی په زیر زدی په بم هم
هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
ستا د زلفو مار چپچلی نه ر غیږ ی
په ستانو ، په زیار تونو ، په دم هم
هغه راز د محبت چه پټ له تادی
زړه خبر ور ځنی نشو قلم هم
د خوښی پیاله په لاس کښی نن زماده
درد زحمت راځخه و تښتید غم هم
تاچه مخ ورته ښکاره کړ لهو نی شو
پاس دغرونو پرسر ګزری پرسم هم
په لذت دی دسروشوندیو کوثرهیڅ کړ
د حیات او به لاهم د زمزم هم
که ناستی دیاردکوی په خاور ومومی
باغ وبهار دسکندر ، دی ارم هم

☆ ☆ ☆

ګوهرخان : داسړی هم دخوشحال خان زوی او شاعر دی ، ویل کیږی چه ګوهرخان هم دشعر دیوان درلود ، مګرورك دی اوشعر ئی هم تراوسه لاس ته نه دی راغلی .

بهرام خان: داسړی هم دخوشحال خان زوی یادښی. بهرام خان دښتو شاعر اولیکوال دی خوشحال دده په ستاینی داسی ویلی دی:

عطار ددې نورقلم دلاسه کیږدی چه په داخویی بهرام انشاالملاکا

☆ ☆ ☆

خودبهرام اشعار هم موږته نه دی څرګندشوی .

حلیمه : دخوشحال خان لوراودعبدالقادر خان سکه خوروه، دایوه عارفه اومتصوفه ښځه وه ، دې به دعبدالقادر په کور کښی نورو ښځمونوته لوست ورزده کول ، قرآن عظیم ئی یادکړیوو، حلیمه هم یوه پښتنه شاعره اوادیبه وه ،ددې میرمنی اشعار، شعر پوهانو خوښول دې د خوبیته دغه دی:

دآشنا په فکر خوښه هسی شان شوم
نه پوهیږم چه ممتاز که نور جهان شوم
وهرچاوته چه ګورم واړه دی دی
دجمال په نندارو ئی شاد مان شوم
غیر فکر له می زړه نه را بهر شو
پرخلیل او پرعدو باندې یکسان شوم
حلیمی د غماز مکر تر حد تهر شو
چه دبیل دیاره نه کا په ګمان شوم

وائی چه دخوشحال خان په ادبی مکتب کښې هم داعالمه پښتنه میرمن لوړمکان لری .

خواجه محمد بنګښ : دی دپښتو له مشهورو شاعرانو څخه دخوشحال خان معاصردی خواجه محمد د پښتو ژبی خورا پوخ شاعردی ، کلام ئی خوږ اومتین دی، دیوان لری خوقول دیوان ئی نه دی خپ ورشوی ، دده ددیوان یوه برخه مسترر اور تی په ( ګلشن روه ) کښی اخستی ده . نوموړی ، عشقی ، عرفانی او اخلاقی اشعار ویلی دی داشعر ئی په اخلاقی موضوع کښی خورا ګټوردی :

زړونه مه ماته وه لعل دبدخشان دی بیامشکل دی زغول داشکسته ؤ

بنګښ هم له ګه دهغه وخت نورشاعران دمغلو له ظلم څخه سر ټکوی او وائی :

داورنګ په پاچاهی کښی می نیا ونشی
زه خواجه محمد به ووزم دبل لورته

☆ ☆ ☆

دخواجه محمد نوراحوال موږته نه دی معلوم ، خود پښتنو په شاعرانو کښی دښی وینا خاوند دی دایوخوبیته ئی ولولی:

چه پادشاه ئی جمله ؤ شایسته ؤ خبرواخله دعاجزوخوارخسته ؤ
زړه می ستا په محبت باندی تړلی نظرو کړه په داخپلودل بسته
دچمن ګلونه واړه پرې تازه شول شمال راغلی ستادمخ له ګلدسته ؤ
درست ئی واپستم له عقله له شعوره ستاخوږوخوږو خبرو آهسته

درحمان بابا حال اوادبی ښونځی : رحمان بابا هر کله چه یوه غریبه کورنی کښې زوکړی نودژوند لومړی مرحله ئی تراوسه پوری موږته نده څرګنده خودده له یوه بیته څخه چه وائی:

زه رحمان یم سروکار می ده له عشقه
نه خلیل ، نه دائودزی یم نه مهمند

څرګندیږی چه په څخه خلیل دائودزی مهمندی ، اوپه بها در کلی کښی زیږیدلی دی دده دزوکړی نیټه نه ده څرګنده ، دپلار نوم ئی عبدالستاردی ، دپښتو دادب دتاریخ په ټوك کښی (ص ۵۰) دده تولد په (۱۰۴۲ه) کال ذکر شوی اومړینه ئی په (۱۱۱۸ه) کښی بولی ، خوپښتانه شعراله دې قرینې څخه چه ده په یوه روایت په اکوړه کښی دزلمی توب په وخت کښی له خوشحال خان سره

ملاقات کړیدی ، نود ده ژوندئی له(۱۰۵۰-۱۱۲۰ه ) پوری تخمین کړی‌دی په‌هرحال‌دپښتنو بابارحمان دروحانی نړۍ مشر اویو ستر‌عرفانی‌سړی‌تېر شویدی‌ده‌له‌ملا محمد یوسف‌یوسف‌زی څخه فقه ، تصوف اونور علوم لوستی‌دی ، تل به‌دخاوند تعالی په‌عبادت مصروف‌و، اوبی‌له‌حقیقی‌عشقه‌څخه‌ئی په‌دنیا کښی له‌بل څه سره‌مینه نه‌درلوده.وائی چه‌دی‌به دیوې ونی سیوری ته‌ناست‌و اودخپل محبوب په‌عشق کښی به‌ئی‌به‌پښتوژبه‌خوازه اشعارویل ، دده شعر ټول الهامی‌دی ، هغه جوش اوجذبه چه‌درحمان بابا‌په اشعارو کښی‌لیدله کېږی‌دبل‌هیڅ شاعر په‌اشعار کښی نشته دی‌وائی:

خوشحالان اودولتان‌می‌غلامان‌دی☆زه‌رحمان‌په‌پښتوژبه‌عالمگیریم

محمد هوتك په‌پته خزانه کښی‌وائی چه‌دخدای‌دوستان‌درحمان‌بابا شعرونه‌ډېر لولی اوخوښوئی اوعام‌خلق فالونه پرې گوری حتی ښځمنی هم دده ګ تاب ډېر لولی ، خدای تعالی دده‌په‌دنیا کښی هسی برکت‌اېښی‌دی چه‌دهرخوزمن‌زړه دا روپه کا» هرڅو نه چه‌دده شعر ته په‌غور کتل شویدی‌نوهغه دشعر څخه پورته مقام لری اوپه دی مقام کښی‌بل څوك له‌ده سره د درېدو حق نه‌لری... درحمان‌بابا دسوی دردمن زړه آهونه ، او سوی ناری دموزونو الفاظوپه‌قالب کښی دکاغذ په پانو جمع شوی‌او یو وړوکی دیوان ورڅخه جوړشوی دی وائی چه‌دده اشعارله‌ده څخه و روسته دده شاګردانو ټول کړی اومرتب کړی ئی‌دی ، درحمان‌بابا اشعارپه‌عین‌ساده والی کښی‌خورا موثراوخوند وردی دی‌دشاعری په‌فن کښی‌دیوه جلابنونکی اومستقل‌سبك خاوندوی ، ده اجتماعی اشعارهم ویلی خودتصوف‌پاخه افکارئی ځای په‌ځای څرګندکړی، داخلاقو ددرس هم ستراستاذ دی، دی هره معنا په‌خورا بلیغه پیرایه کښی بیانوی‌نوځکه دده‌شعر په پښتو کښی اعجاز ګڼل‌شوی‌دی، دی‌عشق دهرشی‌مبدأ اودجهان د پیدایښت اساس بولی دی وائی :

داجهان دی خدای له‌عشقه پیدا کړی
د جمله ؤ مخلو قا تو پلار دی دا

دتصوف په‌باره کښی وائی :

زه دیارمینی په یار پسی شیدا کړم
که‌څوك ماګڼی‌زه نه‌یم واړه دی دی

د استقامت مثال راوړی :

لکه ونه مستقیم پخپل مکان یم
که خزان را باندی راشی که بهار

درحمان بابا دالهامی اشعارو یوځونمونی لاندی ولولی :

که د لدار په دلدا ری‌ زماقدم ژدی
ګویا هر قدم په لوری دحرم ژدی
ځای لری که‌بی منته بوسه راکه
کوم کریم په چامنت دخپل کرم ژدی

معشو قه مشفقه بویه مهر بانه
نه قارون چه‌په ځان‌اسم دحاتم ژدی
خدای ومالوته ګلونه د جنت کړه
که داغونه‌می په‌زړه باندی دغم ژدی
هیڅ مانه‌دی څوك له‌مستو ستر ګونه‌کا
کوم‌یومست‌دی چه‌قدم په‌لاری‌سم ژدی
وا سمانته لاس دعقل نه ر سېږی
ګڼه‌عشق‌په‌عرش کرسی باندی قدم‌ژدی

☆ ☆ ☆

ګوره بیا به څه اداکا په زړه غوندې
چه داهسی مسته ګرزی مخ بر مندې
ته‌چه‌ګل دآشنائی له باغ غواړی
خبر زده کړه دهجران له‌خارو خندې
طالبان که مرور دی هم پخلا دی
بی مطلوب وچا ته نه رسی دا خندې
مارستم د دهر ولیده په ستر ګو
دخپل یار له جوره ژاړی لکه کندې
دعا شق د لا غری‌ سبب هم دا دی
چه‌فرقه دمعشو قو شوه په زړه پندې
زه به حوری دجنت بی‌یاره څه کړم
خدای‌دی سروه‌دچانه‌کاندی ار هندې
سخت ساعت دپلتا نه به می هېر نشی
که را ډکه شی دتور لحد ګور هندې

زه رحمان د هغه حسن ثنا ګوی یم
چه جرګه د عاشقا نو ده پرې پندې

درحمان اجتماعی اشعار :

هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چه‌بېړی‌ غوندی دخلقو باربردارشی

☆ ☆ ☆

په ښه خوی له‌بدخوا هانو بی پروایم
په نرمی لکه او به داو رسزا یم
وهر چاته پخپل شکل څر ګند ښزم
آئینه غوندی بی رو یه بی ریایم

☆ ☆ ☆

درحمان بابا مصنوع غزل :

زه داهسی دیوا نه او مجنون چاکړم
له رواجه له رسو مه بهرون چا کړم
نه پوهېزم چه داچاری په ما څوك کا
لهونی د خپل نګاه په‌افسون چاکړم

کومی ستر گی کوم بانیه کومه غمزه ده
ډوب شهید غوندی په خاك و په خون چاکړم
توان تو فیق خود فتنو را څخه نه ؤ
په فتنو دتورو ستر گو مفتون چاکړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه وم
په داهسی رنګ ز بون او محزون چاکړم

درحمان شاعری :

په مجموعی ډول رحمان بابا د شاعری په فن کښی دمستقل ښونځی خاوند او لوی معلم دی په خپل سبك او شعری تلازمات و، استعاراتو، تشبیهاتو، او نورو ادیبانه نکاتو کښی ځانته داجتهاد خاوند دی دی وائی :

چه دانور شاعران کاندی هغه نه کا
رحمان کړی نوی، نوی اجتهاد دی

☆ ☆ ☆

رحمان نه چامدح کړی او نه هجو، دی وائی :

هم په مدح هم په هجو نه پو هیږم
ولی نه یم په ډې چارو ډهر خورسند
بی له عشقه که می عیب که می هنر دی
ما غوڅ کړیدی له چانه بل پیوند

درحمان دیوان : دبابا دیوان په دوو دفترو کښی لیکل شوی دی چه دواړه دفترونه ئی دیوه پوخ فکر او عالی دماغ نتائج دی دا موجود وړو کی دیوان درحمان داشعارو یوه کوچنی برخه ده، ددې پیاوړی ادیب ټول اشعار په پښتو نخوا کښی خپاره او د پښتنو په سینو کښی محفوظ او ځینی ئی ورك شوی هم دی .

درحمان دشعر په توصیف پیر محمد کاکړ داسی وائی :

که هرڅوك وائی نازك شاعران شعر
ولی دوی ګڼی معجز د رحمان شعر
سوز ګداز د محبت ئی مګر زیات ؤ
چه سوزان ئی هسی شان کړیان شعر
تر مصراع ئی جار شه لا ډیر غلرو
په څه تار ئی اویخته کړیکسان شعر

شمس الدین کاکړ وائی :

که څوك و نیسی په لاس میزان دشعر
په عروض کا سنجیده بیان دشعر
و به نه رسی په شعر له رحمانه
که هر څو کوی هوس افغان دشعر

عبدالله محزون وائی :

د رحمان له شعره بوی د معجزی ځی
مرید ژر کا ندی له پیره برابر

☆ ☆ ☆

یونس وائی :

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمن شو
چه له ډې سرایه په نوی سرای مهمان شو

د پښتو شعر ئی هسی نامه یو وړه
چه خبرئی په اشعار ایران ، توران شو

نوروهم درحمان دالهامی شاعری ستاینه کړی چه دلته نه ځائیږی .

ددې دوری پښتانه مورخین :

شیخ قاسم : یوعالم اوعارف مورخ ؤ، دی دشیخ متی له علمی کورنی څخه دی، چه پلارئی شیخ قدم او مورئی (نیك بخته) نو میده، د پښتو شاعره وه، شیخ قاسم په (۹۵۶ه) د پښور په ( بدنی ) نومی ځای کښی زیږیدلی او په پښور اوشاوخوا ځایو کښی ئی خورا اعتبار درلود، لدې کبله اکبر پاچا لاهور ته وغوښت، اوجهانګیر هوری د (چنار ګډه) په کوټ کښی بندی کړ، او بیا هوری په (۱۰۱۶ه) کال وفات شو چه مزارئی تر اوسه مشهور دی، شیخ قاسم یو پښتون مولف او مورخ دی ده د (تذکرة الاولیای) افغان په نامه یو تاریخ لیکلی دی ، مګر دا کتاب اوس نه پیدا کیږی، اوزموږ لاس ته نه دی راغلی .

نعمت الله نورزی : دخواجه حبیب الله زوی دی، اصلا دهرات پښتون ؤ د (۱۰۰۰ه) په شاوخوا کښی ئی ژوند کاوه، ده په (۱۰۲۰ه) دخان جهان لودی په خواهش د پښتو په حالاتو باندی یو تاریخ ولیکه چه د (تاریخ خانجهان) یا (مخزن افغانی) په نامه شهرت لری دا کتاب په پارسو لیکل شوی او د پښتو په تاریخی اثارو کښی خورا مهم کتاب ګڼل کیږی، ددې اثر قلمی نسخی شته او پروفیسور (دورن) په (۱۸۳۶ع) کال په انګلیسی ترجمه کړی او په لندن کښی خپور شویدی د نعمت الله له دی تاریخ څخه د پښتو دادب لپاره په استفاده کیدای شی ..

هیبت خان : په خپله کاکړ او یو پښتون مورخ او لیکونکی دی، ده له نعمت الله سره هم دهغه د تاریخ په موادو کښی مرسته کړیده، هیبت خان دخانجهان لودی د دربار عالم ، ادیب او مورخ ګڼل کیږی .

شیخ عباس سروانی: دی مورخ د (تاریخ شیرشاهی) په نامه دشیرشاه او دهغه د کورنی حالات لیکلی دی، او دسلیم شاه ترمرګه پورې ئی دسور یانو واقعات بیان کړی دی، ګه څه هم د ډې تاریخ ژبه پارسی ده اما پخپله شیخ عباس یو پښتون مورخ او ستر پوهاند ؤ .

حاجی محمد عارف : داسړی په اصل کښی قندهاری دی ده یومفصل تاریخ لیکلی چه لومړی برخه ئی مطلع او دوهمه ئی

مقطع بولی، محمدعارف پەهندکی اوسیدی اوپه (۹۸۵ه)کال هوری ووژل شو، ددې تاریخ موضوع دهنداوپښتنو دپاچاهانو احوالات دی .

امام‌الدین : دشیخ کبیر زوی او د شیخ قاسم لمسی دی ، شیخ کبیر هم ددې کورنۍ یو مشهور شخص تېر شویدی امام‌الدین د (۱۰۲۰ه) کال پەحدودو کښی زوکړی ، او دخپلی کورنۍ یوعلمی اوروحانی‌سړی ؤ، دی یوپښتون مورخ هم‌دی، اود (تاریخ افغانی) پەنامەئی یوتاریخ لیکلی چەپەهغه کښی‌ئی دپښتنو حالات بیان کړیدی .

کامران خان : په خټه سدوزی دی اوپه(۱۰۳۸ ه) کال‌ئی دقندهار پەښارصفا کښی بوکتاب وکښ چه (کلید کامرانی) نومیده داکتاب محمد هوتك لیدلی دی اوپه پته خزانه کښی ذکرکړی اواستفاده ئی هم تری کړیده، که څه هم داتاریخ دپښتو یوسیاسی او ادبی کتاب ؤ، خوله بد مرغه اوس نه پیداکیږی .

حسین خان افغان : ده په (۱۰۳۲ه) د (تاریخ افغان ) په نامه یوکتاب لیکلی دی چەحافظ رحمت خان لیدلی ؤ، خو زموږ پەلاس کښی نشته .

ابراهیم بیټنی : دشیخ عباس سروانۍ د تاریخ شیر شاهی پاته برخه بشپړ کړیده اویوپښتون مورخ ؤ ددې دورې لحینی علما اوشاعران چه آثارئی زموږ لاس‌ته نه‌دی راغلی .

مولینا عبدالوهاب : دلسمی‌هجری پیړۍ لەمشهورو علماؤ اوقائدانو څخه ؤ وائی چەدی دسلطان محمود گډون ملگری ؤ سلطان محمود، د(۱۰۰۰ه) په حدودو کښی د اباسیند پرغاړو دپښتنو یوملی‌مشر ؤ، عبدالوهاب داشنغر په (دواوه) کښی لوی شوی اودسلطان محمود گډون له خوا خلیفه اومعروف پیر او عالم ؤ چەډېر مریدان ئی لرل، اخوندچالاك هم دده مرید ؤ ، اخون درویزه دده پەباره کښی داسی لیکی‌چه ( دی یو پیاوړی عالم اود خپلی زمانی پرهیزگار سړی ؤ، نوموړی په پارسی، عربی، پښتو اواندکو ژبو کښی‌تالیفات لری ، کنزالدقایق‌ئی په فقه کی نظم کړیدی، عبدالوهاب دعلم دخپرولو لپاره خورا زیات کوشش کړیدی اویولوی مجاهد هم ؤ، قبر ی د پېښور په اکبر پوره کښی‌دی اوداخون‌پنجو بابا زیارت بلل کیږی

اخون چالاك : پەخټه خټك او دمولانا عبدالوهاب ملگری اومرید دی، اخون چالاك د شینوارو اوصافو په مرسته دکونړ پەغربی درو کښی داسلام داشاعت دپاره لەکفارو سره ډېری غزاگانی وکړی، ملامست پەخپل کتاب (سلوك‌الغزات) کښی داخون دمجاهداتو بیان کړی یوځای وائی :

دازموږ اخون همیش بهادر ددین دی
چه لـه مخه ئی تیاره تښتی رنیالخی

☆ ☆ ☆

اخوند درویزه هم داخوند چالاك ذکرکړی دی وائی چه دی د شاه جهان مغولی له لا سه مړ شوی او قبر ئی په پېښور کښی‌دی .

مولانا نور محمد : داپښتون عالم هم دمولانا عبدالوهاب لەملگریو څخه‌دی، یوغازی سړی ؤ، اصلی‌نوم ئی محمدیونس اونور محمدئی‌دوهم اسم‌دی، پەخزینة‌الاصفیا کښی راغلی‌چه‌دی دیوسف زو پوهاند اودټولوهغو صفاتوخاوند ؤ، چەیوه‌پښتون مشرته پەکاردی مولانا نورمحمد دمولانا عبدالوهاب په هدایت داباسیند په کوهستان کښی‌دعلم اواسلامیت پەخپرونه بوخت‌ؤ ، هوری ئی دچالاك په ملگرتیا غزاگانی کړی او اسلام ئی هم خپور کړیدی، دمولانا عبدالوهاب زوم هم ؤ ، مولانا نورمحمد دهندوکش پەدروکښی هم د علم دخپرولو په غرض گرزېدلی دی، ده پښتو ژبی ته په خپلو علمی تد ریساتو کښی ډېر اهمیت ورکړی اودپښتو پەخدمت کښی برخه لری مولانا نورمحمد په (۱۰۵۹ه) کال وفات شویدی .

مولانا احمدشاه : دمولانا نورمحمد ورور اوعالم سړی ؤ، په هندکښی اوسېدو پیر سباك داخوند چالاك ورور اودمولانا عبدالوهاب دسلسلی یوعالم اوفاضل پوهاند ؤ .

محمد یوسف : پەکام یوسف زی اوښه عالم اوفاضل سړی ؤ، عبدالرحمن بابا دددې نامتو عالم له شاگردانو څخه‌دی، اود ینی‌علومئی‌تر‌پلوستی‌دی .

عبدالله : دروښانیانو معاصردی ، داخوند در ویزه پەوینا دملا رکن‌الدین زوی اودپښتوژبی‌شاعرؤ ، مگردکلام نمونه‌ئی زموږ پەلاس کښی نشته .

الله‌داد : داسړی‌قاسم‌علی افریدی دکریمداد اودرویزه‌سره یوځای دشاعرانو پەډله کښی یاد کړیدی ، احتمال لری چه د اخوند درویزه پەښونځی پوری‌اړه‌لری ،

میاداد: دی‌هم دپښتو یومشهور شاعرمعلومیږی لحکه‌چەډېرو وروستنو شاعرانوده ذکر کړیدی‌مگرپه‌یقین‌سره نده څرگنده چەدی څوك‌ؤ ، میرزاحنان دی دشاعرانوپەډله کښی راوړی‌او وائی (بل اخون میاداد ، دعشق پەمیوستؤ) دمطیع‌الله پەقلمی دیوان کښی دیوەغزل دپاسه چالیکلی دی چه داداخوند میاداد دشعر عکس‌دی لەدې نەدپښتو دادب دتاریخ(دوهم‌ټوك)لیکوال

حدس کړی‌ئی‌چه‌دغه لیکونکی دمیاداد اشعارلیدلی‌وو ، موږته ئی پته نه‌ده څرګنده ....

مسری خان : ددې شاعر نوم ملا مست پخیل کتاب کښی داسی راوړی :

هغه شاعر مسری ئی هم ور سره مـ کړ
چه‌په درست صافی‌ئی غـښتو ، دبـد لونو

غالبه‌داده چه‌داشاعرپه‌خټه‌صافی‌وو ، اوملامست ملګری، نور معلومات ئی‌لاس‌ته ندی راغـلی .

څرګنده خبره‌ده چه زموږ معلومات‌ددغو علماوو ، شاعرانو په‌مورد کښی چه‌برموږ کرکړل ، خورا نیمګړی‌دی ، اما ددوی نومونه مولدې کبله یاد کړل چه‌له تاریخ څخه‌پاته نشی، بل‌دا چه کښتی‌بله پلاموږیانورلیکوال‌ددوی احوال‌اوآثارپیدا کړی.

ددې دوری پښتانه پاچاهان : پدې دوره کښی د پښتنو مشهور پاچا شیرشاه سوری ستر ټولواك دی ، د ده اصل نوم فریدخانوو ، اوپلارئی حسن‌نومیده،شیرشاه سوری په (۹٤۸ه) کال له‌همایون مغلی پاچا څخه سلطنت واخست اوپه هند کښی د‌پښتنو یوخورا ستر سلطنت جوړ کړ ، شیرشاه خورا عادل‌او مدبر پاچاوو، شیرشاه دعالمانو، فاضلانو خورا قدرکاوو ، اوټول پښتانه ئی په‌یوه سترګه کـتل اوویل‌به‌ئی ، زما په‌دربار کښی دقبیلو ذکر مه‌کوی،ماته‌ټول پښتانه یودی(دآزاد پښتون‌مجله) له‌ده څخه وروسته دنوموړی زوی‌اسلام شاه هم پاچاهی کړیده، دشیرشاه په‌دوره کښی پښتانه شاعران لکه شیخ عیسی‌مشوانی اونور تپرشویدی ، همداډول‌لخینی پښتانه موخین‌لکه‌شیخ عباس اوداسی‌نورهم په‌دغه‌زمانه کښی‌ددرناوی خاوندانوو ، پدې‌دوره کښی نورلوی پښتانه پاچاهان پدی بدی‌تیرشوی عموماًدغه‌دوره دمغلودسلطنت‌پـه‌دوره سره‌یادیږی چه‌له‌بابر پاچاڅخه شروع شوی او په محمدشاه کور ګانی باندی پایته رسیدلی ده ،که څه‌هم پدی‌زمانه کښی لخینی پښتانه سرداران لـکه میاروښان سلطان ملخی توخی اوداسی نورملی‌مشران تپر شویدی خوددی د پاچاهانو په‌جمله کښی نه ګڼل کیږی .

ددی دوری دپښتو ادب ته بوه لنډه ګتنه : هر کله چه ادب او شعر دخـیـل عصر او زمان د ذهنیت او تخیـل هنداره ده اوشاعر اولیکوال هغه اغیزی چه دخیل طبیعی اواجـتـماعی محیط له چار پیر څخه اخلی،دشعر اوفنی نشر په‌ذریعه د عمل‌او عکس العمل دقانون په‌مطابق هغه بېرته څرګندوی لدی کبله دپښتو شعر او ادب هم‌پدی دوره کښی دزمان اومـکان له‌دوو خوراسترو موثراتوڅخه‌زیات متاثرشوی اونسبت ودوهمی دوری ته ئی په‌دی دریمی دوره کښی سترتحول کړیدی ـ هغـه‌دوه ستر عوامل چه‌دپښتودادب‌به نهضت او تحول کښی خورا ستری اغیزی لری دادی :

لومړی : دمغلودحکومت دسیاست طرز، دپارسوژبی ادبی نهضت، دمدنیت پرمخ‌تك ،اقتصاد ،علمی نهضت ،دپښتو دمحیط بدلون له غرنیوعلاقو ،سړی آب‌وهوا څخه‌ونرمی،پراخی‌ارشو، تاوده محیط، تماس‌له‌ډول ډول خلقو سره دپښتو په شعر اوادب باندی داسی څرګندی‌اغیزی غورزولی‌دی چه‌له‌یوه قالب‌څخه‌ئی وبل قالب‌ته رابنکلی دی ..

دوهم عامل هم هغه داسلام دسپیڅلی دین وسعت او دمذهبی افکاروتنوع ،نوی الفاظ ،کلمات، تفکر، او د اجتماعی مقتضیاتو پرا خوالی دی ، چه‌ددې عامل ملحقاتو هم دپښتو ادب ته سخت ټکان‌ور کړی اوله‌یوه سبك‌اواسلوب‌څخه‌ئی وبل‌سبك اواسلوب ته را اړولیدی ...

مثلا تردې پخوا د پښتو ادب یوازې دشعر، یاانشائی ادب په‌چوکاټ کښی دخپلو ملی‌اوزانو ،محلی بحورو،حسی‌تشبیهاتو ، کرټو پښتو لغاتو ، اوسپیڅلو تخیلاتو لرونکی او دموضوع په لحاظهم په‌عشقی ، حماسی‌سندرو، موعظ ، طبیعی‌منظرو باندی محدووؤ ـ خو دامهال دپارسو ادبی نهضت، عروضی‌سینګـار ، د مذهبی افکارو عمو میت ، نوی محیط او اجتماعی حواد ثو له یوې‌خوا ـ اودمغلو دحکومت سیاسی روښی، دمدنیت پرمخ‌تك، دعلم او ادب انکشاف ، له بلی‌خوا دپښتو پر ادب نوی اغیزې ولګولی نوپه‌شعر کښی په‌یوه‌سترہ پیمانه سره مذهبی ،اخلاقی ، تصوفی ، فلسفی ، تبلیغی، جنګی، سیاسی، مدنی افکار راننوتل، اودپښتو ادب ته ئی نوی تلازمات ،عقلی تشبیهات ، نوی نوی موضوعات، عروضی جوړښت ورکړ، له‌بلی‌خوا هرکله چه‌عربی ژبه دمسلمانانو دینی ژبه‌ده نوپه پښتو ادب کښی دوصفی ادب دانکشاف په‌وجه په‌سل‌هاؤ دینی، تصوفی ،فلسفی، شرعی،اوداسی نور کلمات راګډ او دپښتو پخوانی شعراو شاعری ته‌ئی علمی فنی‌رنګ ورکړ ،سربېره پردې‌پارسی ژبی‌هم دخیل نوی سبك اوسیاسی نفوذ په‌وجه دپښتوپه‌ادب کښی اغیزی څرګندې کړی، او نوی سبك او اسلوب ئی منځ‌ته راوړ، نودا وخت دی چه داحتیاج اوضرورت به‌لحاظ هرنوع عروضی اشعار وویل شول، اوپه پښتو نثر سره ډېر کتابونه ولیکل‌شول شك نشته چه پدې تحول کښی لومړی دمیا روښان اودرویزه مذهبی شخړې اوبیا دخوشحال‌خان اوده دکورنیو ادبی‌مکتبونه ،یرغلونه ،دازادی غوښتلو افکار په دوهمه درجه اغیزی لری .

دپښتو دنوی پراخ سبك اواسلوب په‌سبب که څه‌هم دپردو الفاظو استعمال دپښتو دنظم‌او نثرو سپیڅلتوب او سلاست ته څه‌قدر ضرر پښ کړ ،اماددې نوی ادبی انکشاف په‌وجه‌دپښتو دشعر اوادب لمن ارته شوه او پښتو دعلم او آزاد لیك ډګرته راووته ،لغوی ،ادبی ذخیره‌ئی ډېره‌شوه ، دتصوف او عرفان له ډډې دپښتو دادب پله خورا درنه اوپه پښتونخوا کښی عمو میت

غوره کړ ،او پښتانه ئی دوه‌سوه کاله له مغلو سره داله گولی په دوره کښی د پارسو له شعر اولیك او کتابت څخه بی نیازه و گرزول ، په‌پای کښی دپښتو لمن له‌هر راز ادبی او اجتماعی مضا مینو څخه داسی ډکه شوه تر څو چه د نو ر و اجتما عی شاعرانو په‌ډله کی رحمان‌بابا غوندی‌لا تعلقه‌سړی هم ددی‌وخت داستبداد ،دمنظری وښوولوته راپاڅید ،لکه چه وائی :

په سبب د ظا لما نو حا کما نو
کورو گوراو پښتور دری‌واړه یودی

په‌دې دوره کښې نثرته‌هم ښه‌توجه شویده اونثرله نظم‌سره یوځای‌مخ په وړاندی روان‌شو، له‌عربي او پارسی څخه په‌پښتو ترجمی شروع شوې ، اوتاریخی کتابونه هم و لیکل شول، دپیر روښان خیر البیان ، د دروښزه مخزن الاسلام ، د اخون قاسم فوائدالشریعه، دخوشحال‌خان هدایه په‌پښتو ،دعبد القادر گلدسته دخوشحال‌خان عیاردانش دانوار سهیلی ترجمه په نثر کښی .

اودمیرمن نیك‌بختی ارشادالفقرا، دملاالف بحرالایمان، او نصیحت نامه ، دارزانی دیوان، دمرزا دیوان ، ددولت دیوان، دامیر تجوید ، دملامست سلوك الغزات، د خالقد اد شرائط او احکام‌ایمان ، دبابوجان دیوان، دخوشحال‌خان دیوان، (کلیات) دادم‌خان او درخانی نقل،خسرو اوشیرین ، دسکندرخان دیوان اومهرو مشتری ،دکاظم خان دیوان، دخواجه‌محمد بنګښ دیوان، درحمان‌بابا دیوان ، اونور په نظم کښی ...

اوبستان الاولیا ،تحفة الصالح ، تذکرة الاولیای افغان ، مخزن‌افغانی ،تاریخ افغانی،کلید کامرانی،تاریخ‌شیرشاهی ،تاریخ مطلع او مقطع ، په تاریخ کښی دد غی دو ری ستر اثار او مو لفات د ی .

دپښتو دادب څلورمه دوره له(۱۱۰۰ه تر۱۲۵۰ ه) پوری

دهوتکو او سدوزو زمانه :

ددې دورې شاعران اولیکوال :

عبدالحمید مومند : د دولسمی پیړۍ داولی نیمائی بر خی خورا مشهور اودښونځی خاوند شاعردی ،دی د پښتور د(ماشو خیلو) دکلیوۀ د(۱۱۳۰ه)کال په حدودو کښی مشهور شو ،دی دپښتوپه‌شعر کښی د نازکخیالیۍ په‌ممیزه ممتاز، اویود مضمون آفرینیۍ استاد گڼل‌شوی (لکه رحمان اوخوشحال‌خان چه دیوه نوی سبك خا و ندان دی) داسی څرگند ښزی چه حمید دهند دپارسی سبك له دقایقو څخه متاثر شوی او هغه اسلوب ئی په استا ذانه ډول دپښتو ژبی دشعرپه گڼه کښی په خورا بشپړ ډول څرگندکړیدی میرزا حنان اوپیرمحمدکاکړ حمیدته د موشکاف لقب ورکړی، دحمیدمکتب په‌پښتو کښی د سوزاو گداز صحنه‌ده دده له‌سبك‌سره دزړه سونګ ، د درد سوی ناری ملګری‌وی ، دی‌هروخت نازك‌اشعار ،اودعشق تودې نغمی ژغوی اوله خدایه لانور سوز او گداز هم‌غواړی ،دی وائی :

چه‌دی نوم په غوږ و اورم سره لمبه شم
هو مره سوز راکی پیدا کړی ز ماربه

☆ ☆ ☆

الهی د محبت سوز و گداز را
په‌داوړ کښی دستی‌سمندر سازرا

☆ ☆ ☆

دحمید تولید نه‌دی څرگند خو مستر راورتی دده وفات‌په (۱۱۴۵ه) کال‌بولی ،دکلام نمونه ئی :

عشق

اهو چشمو چه یې زړه په افسون و کښې
هنوسر له‌ودانۍ په هامون وکښې
انتظار ئی د نرگس گـو نه کړه ژیړه
سروی سر پسی له باغه بیر ون وکښې
دائی ښاخ له گل سره په تلوار پر ېکړ
که دزړه سره می ترکو لړ مون وکښې
بېـهو ده ئی صبحدم بو لی و گـړ ی
د غه آه زما له غمه گـر دو ن و کښې
دا په اور بانـدی زړا د کـباب خپړ ی
کـه فریاد ، دیار له غمه محزون وکښې
وآسمان ته به دعقل ستنی کـښـږ دی
که‌حمید دغم له سره زنګون و کښې

محمدیونس: دپښتویوغوره‌شاعراودرحمان شا گرد دی، اشعارئی درحمان‌بابا په‌څېرروان‌دی، په‌کام موسی‌خیل اودخیبر دی ،دپټی خزانی‌په‌روایت په (۱۱۳۰ه) کښی‌یودپرش کلن‌ځوان‌ۀ،دعالمانو شاعرانو قدردان او مېلمه دوست‌سړی ۀ یونس داشعارو بشپړ دیوان‌لری چه‌یوه‌خطی‌نسخه ئی دافغانستان په شاهی کـتابخانه کښی‌خوندی ده دی‌په‌عربی‌علومو کښی‌دمهارت څښتن ۀ پادری هیوز په‌کلید افغانی کښی‌دده‌دغه‌لف او نشر غیرمرتب اشعارانتخاب کړی دی :

توری‌زلفی شنه‌خا لونـه سره ر خسار
شنه توطیان‌دی‌سره گـلونه‌تور ښامار
په‌یوه خال چه‌یو په‌لس شی عجب نه‌دی
چه په‌دوه خاله شمېره شی لس په سل

☆ ☆ ☆

حماسه :

دمیدان په ورځ چه تېښته کاله جنـګه
پاتی هیـڅ نشی باقی لـه‌نام ونـنـګه

لـه میدانـه نـهښته کـاردی دزنـانو
مرد به نه تښتی له غشی لـه تفنـگه
چـه‌دتورو پـه‌بریښنائی وارخطا شی
مورئی مه‌وای په‌هغه غولا تـی لنـگه

☆ ☆ ☆

عیسی آخون زاده : دقندهار کاکړدی دی یو مشهور عالم اوادیب‌سړی‌ؤ دابیت دده دی:

وېر دمینی می‌تاخون په‌زړ گی‌کـښنود
نه‌مـی وینی بی زړا بی واویلا شو ك

میرزاحنان دده اشعاردآفرین وړ بللی او وایی چه ده یو کامل دیوان در لود دژونـد زمانه‌ئی نه‌ده معلومه خوغالبا ددولسمی پېړی‌ شاعر گڼل کېږی .

مسعود گل: دعبدالله زوی دپښتو لیکوال او شاعردی ، دده یوادبی اثر د(آدم‌خان اودرخوقصه‌ده) چه‌په پښتو نثرئی لیکلی ده، پدې‌قصه کښی ځای‌په‌ځای خپل اشعار هم‌راوړی دی، دژوند زمانه‌ئی نه‌ده څرگنده خوتر ۱۰۰۰ هـ وروسته غالبا ددولسمی پېړی‌ شاعردی دکـلام‌نمونه‌ئی ولوئی :

چه سینه ئی دادم په اور کـباب شوه
دحجاب میرمن در خانه بی حجاب شوه
چه آدم درباب غوږ ورباندی تا و کړ
وچی شوندې په نغمه لـکه ربـاب شوه
دادم شـرابو همی مستـی ور کـړه
خلقی ئی و نظـروتـه سیـراب شوه

قلندر افریدی : قلندر دباړی اوجمرود ، په غاړو اوسېدی، دی دحمید همعصر اودحمیددښو نځی پیرودی لکه‌چه‌وائی:

فضل دسبحان په قلندر د شعر وشو
دا واړه سبب فصیح بلیغ ؤ د ماشو

دپښتوادب په‌دوهم ټوکـ کښی راغلی چه قلندر دیوه وړو کی دیوان خاوندی، دده‌شعرلکه دحمید له‌سوز او گداز څخه روغ شوی، وائی‌دی په‌میرا عاشق ؤ ، اویائی پیرؤ قلندر په سوات کښی‌وفات‌شوی‌اوپریوه غونډی‌ـباندې ښخ‌دی،دده‌د کـلام‌نمونه:

نشی‌خوك‌سانلی سره‌بڅری په گرېوان کښی
ومی سوو په آه سره د صبر در منـدو نـه

☆ ☆ ☆

که اوردی ، اور دی بېلتون خواور دی .
زه قـلندر یـم پـکـښی می کور دی
اور په سونـگـ بـه دچـا رضـا شی
رضـا می نـه ده را بـا نـدی زور دی

علام‌محمد : دشرین‌خان زوی دی په خټه کـښکیانی چه‌دپښور په (دواوه) کښی اوسېدی دی ددولسمی پېړی‌ دا ولی نیمائی شاعردی، ده‌دپښتو جنگنامه ،دوالضحی تفسیر او معراج نامه‌ئی له‌پارسی څخه په (۱۱۱۵ه) کال په پښتو نظم ترجمه کړی ده اشعاریی‌ساده اودمثنوی په‌ډول‌دی، دکـلام نمونه ئی :

هسی وائی دصدیق په خلافت کـښی
یوسړی ؤ ډوب تمـام په معصیت کښی
یوه‌شپه صدیق په خوب کښی ؤ لیدلی
شا هانه تاج ئی په سر ؤ لخلـهـدلی
ابو بکر ور څخه وکـړ له پوښتنه
داعزت دی په څه بیا موندله څښتنه ؟
هغه‌سړی ورته عرض وکـړای صدیقه
داخبر رښتیا وتاتـه کـړم تحقیقـه
چه‌مړی‌ـمی هغه وخت فقیرته ورکړه
زه‌هم‌هسی وزی کـښیناستم باور کړه
اوس هغه مړی‌ـ دلی ز ماپه‌ښه شوه
راوستم ئی تردې لحایه زما مله شوه

بای‌خان: دراورتی په قول دښیروؤ ، اود جامی لیلی مجنون ئی په‌پښتو راړولی‌دی دژوند زمانه‌ئی (۱۱۰۰ه)ناکلی ، نوموړی مستشرق دایو بیت دده ضبط کړیدی :

لـه دی خیلی بـدی بـرخی چاته ژاړم په چا دادکړم

حمید گل: درحمان‌بابا خوریی‌دی ، دپښورپه (پلو سړ) کښی اوسېده، دژوندزمانه‌ئی‌له(۱۱۰۰ه) څخه‌راوروسته‌ده ،دی یوملی شاعر اوپه‌ملی لهجه‌ئی‌بدلی بللی‌دی دکـلام نمونه‌ئی :

یا تیك ستا په جبین دی یا ستر گـه د سبـا ده
یا جام دچین ماچین دی یاسپینه خو له زیبـا ده
یا عطر د گـلانو یاستادمخ خولی‌دی
یا تو ری د پو لا دو یاسترگی دلیلی دی

فیاض: دی یو گرزنده سړی ؤ، اوښه ساز به‌ئی هم‌کاؤ، ده د(بهرام اوگـل‌اندامی) قصه‌په پښتونظم کړیده ، پادری هیوز داقصه‌په‌کلید افغانی کښی خپره کړی‌ده ده‌له اشعاروخخه داسی معلومېږی چه‌دروانی طبعی‌خاوندی‌دی، اوپه‌دغه وخت کښی فیاض لومړی شاعردی چه‌دمنظومو افسانو سلسلـه‌ئی نبلولی اودغزل په‌دودسره‌ئی قصه‌نظم کړی‌ده ،دده دکـلام نمونی :

دبهرام اوگـل اندامی دواده جوړیدو څخه وروسته :

دغه پسه دبهـرام واده ئی جوړ کـړ
رنـگا ر نـگ جوړی زرینی رغېدلی
گل‌اندامه ئی کړه داخله په حرم کښی
دسروتیك ئی پـه جبین شغلی وهـلی
چه‌پیزوان‌ئی په‌سروشوندو باندی سور کړ
خـلقی ئی بـی گـنـاهـه قـتلو لـی

ځلوښت ورځی ئی واده کاؤ یارانو
هم بی شانه تو پخانی به خلاصېدلی
بیائی نیت دتلو دروم وکړ فیاضه
دبهرام لښکری کل سنبا لېدلی

☆ ☆ ☆

دهوتکو دکورنی اوددوی ددربارشاعران :

شاحسین : دحاجی میرویس‌خان زوی دی، په (۱۱۱٤ه) کال دهوتکوپه (سیوری) کښی زېږېدلی‌دی ، عربی علوم ئی له ملا یارمحمدهوتك څخه‌لوستی‌دی شاحسین یوعلم پالونکی اوښتو روزونکی پاچاؤ، ډېر عالمان اوشاعران به‌ئی په در بارکښی ټولېدل‌اودهغوی پالنه اوروزنه به‌ئی کوله، دی پخپله هم دښتو شاعراوادیبؤ ،یه‌پارسی کښی به‌ئی‌هم اشعار ویل : محمد هوتك په (پټه خزانه) کښی لیکلیدی چه‌شاه حسین دښی وینا خاونـد اودښتودشعردردەن‌دی بودیوان ئی‌مرتب‌شویدی، دده‌یوه ملی‌بدله له‌پټی خزانی څخه را اخلو :

بېلتانه دی‌دغمو په چپاوچور کړم
په‌تیارو کښی دهجران له‌تاد ور کړم
دفراق پری می پرېووت و مری ته
په‌جهان کښی‌ئی‌رسوا لکه منصور کړم
په و صال دی هم نانبا دیمه دلـبری
دبانو غشی می وخوړ په ځـگر کښی
خلق یاد زما دعشق په لـهو نو کا
زه حسین محبت هسی مشهو ر کړم

☆ ☆ ☆

شاحسین په‌ملی وزن اولهجه هم ځینی بدلـی ویـلی دی، دیوې بدلی مطلع ئی پښتانه شعرا کښی راغلی ده اوهغه داده :

نن‌دی‌اور بل په‌سینه‌تندی‌باندی‌راخور کړ بل‌دی په ماباور کړ

☆ ☆ ☆

دائود خان : دقادرخان زوی دی چه د قندهار په کوکران کښی هستوګنه در لوده دحاجی میرخان سره دوطن دآزادی‌ـ په جګړو کښی ملګری اودهغه سپه‌سالار ؤ ، دا ئود خان ځای په‌ځای ډېر ګرزېدلی‌دی اوله هرځای څخه ئی د پښتو شاعرانو احوال راغونډ کړی، دده‌دغه ذوق‌ترهرڅه ډېر دستاینې وړدی یوعالم اوپوه سړی وو، طبعه‌ئی هم ښه وه کله‌کله به‌ئی اشعار ویل دایوه رباعی دده ده :

چه دچاپه زړه کښی اور دمینی بـل شی
په اوربل ئی لمبی ګډی حال می بل‌شی
اور دمینی کله مری د زړه لـه مینې
داور بل مینه که‌تل د زړه په‌تل شی

دا ئود خان په (۱۱۳٦ه) کښی وفات او په کوکران کښی ښخ شو .

بابوجان‌بابی : دکرم‌خان زوی‌دی چه‌په اتغر کښی اوسېدی داسړی هم دحاجی میرخان له ملـګریو څخه ؤ ، اوله ده، سره دقندهار دآزادی‌ـ په جګړو کښی شریك وو ، داعسکر دپښتو شاعرهمدی‌په(۱۱۲۹ه)کال ئی‌د(شهااو ګلان)قصه دقصص‌العاشقین په‌نامه په‌پښتو مثنوی نظم کړه چه نمونه ئی داده :

عشق یوهسی تور یالی دی — چه‌په هرځای ئـی بری دی
دعشق اورهسی سوزان دی — چه سپځلی ئـی جهـان دی
زړه بی عشقه کله زړه دی — چه بی عشقه زړه دمړه دی

☆ ☆ ☆

ملاپیرمحمد هوتك : د ملاسرور اخوند زوی دی او دحاجی میر له ملګرو څخه ؤ، بیاله شاه محمود سره اصفهان ته ولاړ اوهلته په‌پیرافغان سره مشهورشو، ده‌دوه کـتابونه لیکلی‌دی، یوافضل‌الطریق اوبل ئی (الفرائض فی ردا لـر وافـض) دی، افضل‌الطرایق داخلاقو پرموضوع لیکل شویدی .

محمدهوتك په (پټه خزانه ) کښی دافضل الطر ایـق یوه منظومه را اخستی او هغه داده :

شیـخ متـی چـه خلیلی وو — دی له آره لوی و لـی وو
یوه ورځ روان پـه لار وو — لوی څښتن پـه استغفار وو
په دی لاری تـیـزی ګـټی — لاری مځکی وی پری پټی
ډېری شپی راغـی رویدار — چه ئـی صا فه کـړ له لار
یودهقـان به آبیاری کړه — شپه‌په‌شپه به ئی خواری کړه
ده بـه لید پـه‌توره شپـه — شیخ متـی په ز یـار اختـه
یوه شپه راتپر ملیـار شـو — شیخ متی ته په ګـفتار شو
ای‌دخدای رویداره‌څه کړی — دونه زیار، زحمت په‌څه کړی
پـا کوی دلاری ګـټی — پدی خا ورو څه دی ګـټی
دا سـی ووی شیـخ متـی — دمـړ لا پـه عشـق پـتی
چـه خـد مـت دخلـق‌الله — یوه ګډی‌ـ‌پـه یـوه ساه
تر هرڅه بهتر دی ور وره
زده کـړه داخبره ګـو ره

ملایار محمد هوتك : یوستر عالم او دښتو ادیب او دشاه حسین استاذ ؤ، محمد هوتك وا ئی : چه شاه حسین به اشعـار جوړول، اواستاذالعلما ملایارمحمد ته به ئی لوستل چه‌دی ئـی صحیح کـړی، مـلایـارمحمد پـه فقه کښی د ( مسائل ارکان خمسه ) په‌نـامه یو کـتاب لیکلی دی، نوره شر حه ئـی لاسته را نغله .

سیدال خان ناصر : بـاړی زی سور ناصردی، دابدال خان زوی اردوازی خوا په ډیله کښی او سېدی سیدال خان لومړی

دحاجی میرخان اوبیا دشاه‌محمود ملګری ؤ، دې سپه سالار دقندهار په‌آزادۍ کښی ښه‌برخه درلوده، دی په‌ګردو جګړو کښی فاتح ؤ. پته خزانه دی یوعالم اواديب د پښتو ژبی شاعر لیکلی داځو ملی بیتونه د سیدال خان دی :

یار ماله هسی ګران شو راتیر تر تول جهان شو
نور نه وینم په‌سترګو جهان تول راته جا نان شو
دوی‌زلفی‌دی اوږدی کړی پر مخ دی را خیری کړی
سری‌اشرپی‌ردی‌پرتندی باندی سپری کړی
ګرزی‌په‌باغ کښی‌پر ګلونو باندی‌نخری کړی

☆ ☆ ☆

په اوږه دی وسوم یاره را ته اورتازه بوستان شو
مین په لو یو غرو ځی سر تور په نیمو شپوځی
ووزی له وطنه، وطن پرېږدی په چولو ځی
فریاد اوناری وکا په نارو په غلبلو ځی

☆ ☆ ☆

دسیدال خان د غه بدله اوږده ده په برو بیتو اکتفاوشوه ناصر سیدال پښتون سپه سالار چه افشار نادر به (ګرګ باران دیده باله ) دکابل په شکر دره کښی و فات شوی او هوری ښخ‌دی .

ملانور محمد غلجی : د ملایار محمد زوی دی ، محمد هوتك لیکی دی په پنجوا ئی کښی او سیدی او د حاجی میرخان دکوچنیانو معلم ؤ، دعربی علومو د تدریس حلقه‌ئی هم درلوده ملانورمحمددشاه‌حسین په‌نامه‌یو کتاب‌لیکلی چه (نافع المسلمین) ئی نوم دی ، داخوند درویزه دسبك پیروی کوی ، ددۀ دغه کتاب دپښتو ټولنی په کتابخانه کښی مو جود، دی، دبشپړ نظم نمونه ئی دادوه بیته دی :

په هروخت له مسلمانودلدا ری کړه
په در یمه شپه کښی دپره بیداری کړه
هم په‌خپل‌صورت وژاړه هم زاری کړه
داخپل ځان لکه‌حباب‌ترې بېزاری کړه

☆ ☆ ☆

ملامحمد یونس : په خټه تو خی دی د شاه حسین د دربار یومدرس‌عالم ؤ، خلقوته به‌ئی‌درس‌ور کاؤ، د (جامع‌الفرایض) کتاب ئی په پښتو کښی تالیف کړی دی .

ملازعفران تره کی : د شاه حسین د دربار یو عالم او ادیب ؤ، محمدهوتك وائی‌چه‌په حکمت ، طب‌اوریاضی کښی استاذ ؤ، په‌طب کښی‌یې (ګلدسته زعفرانی ) نومی کتاب لیکلی، دده یوه ټوټه شعر په پته خزا نه کښی راغلی چه دژوب او شال له‌فتح کېد و څخه پر شاه حسین زهری کوی او وائی :

دحسین پادشاه د بخت ننداره ګورئ
چه ئی فتح په لښکرو ژوب وشال کا
چه دا زهری ئی راوړی دی حضور ته
نوزعفران انعام‌په‌سر زعفرانی شال کا

☆ ☆ ☆

محمدګل مسعود : دی په پښور کښی اوسېدی، دپټی‌خزانی په‌قول شاعر ؤ، داملی بدله ئی په‌پته خزانه کښی راغلی ده :

چه‌می‌جانان‌په‌نیمه‌شپه‌کښی رانه‌بیل‌شو اور را باندی بل شو
چه‌رانه لاړی،نوئی غم راسره مل‌شو اور را باندی بل شو

☆ ☆ ☆

بښکلی‌لیلی له‌مانه‌لاړی زه‌نسکوریمه سوی په او ر یمه
دبهلتانه‌سوراړ کښی‌ورك‌مرض‌می‌جل‌شو اور را باندی بل شو

☆ ☆ ☆

ملامحمد صدیق پوپل زی : دیارمحمد زوی اود (ارغسان) اوسیدونکی دی، محمد هوتك وائی چه یو عشقی ځوان دی اوزړه ئی له‌لاسه ایستلی، پخپل محبوب پسی‌ژاړی دردمن زړه لری دمینی په اور سوی‌دی سوزناکی بدلی بولی ، کله چه دزړد منداتو په‌ډله کښی کښینی ، مجلس ژړ وی، او غمجن زړه‌نه پخپلونارو، غلبلو سوځی، زمانه دده په‌ځوانی‌رافسوسونه کا اوعشق ئی جنون ته رسېدلی دی،بالبداه اشعار لولی‌اود زړه دزړد سوده په کوی دابدله ئی‌ولولیء :

لکه بلبل‌چه بی‌له ګله‌بل‌ار مان‌نه لری
همی بی یاره بله هیله عاشقان نه لری

☆ ☆ ☆

چه ژړاکاندم‌بی‌له یاره‌بل‌مطلب‌نه‌لرم
چه همی سوریمه په وینو‌بل سبب‌نه‌لرم
بی‌یاره‌نورځه نه‌غواړمه‌نور مطلب‌نلرم
چه‌څوک‌مین‌شی‌بی‌له یاره‌بل‌ارمان‌نلری

☆ ☆ ☆

ترتا چه ځان‌قربانومه‌اې نیازمنه یاره
تل د غمونه ګلومه اې نیاز منه یاره
له‌سترګواوښی تویو مه‌ای نیازمنه یاره
زړه می‌بی‌تاپه یوساعت دمه‌اوتوان نلری

☆ ☆ ☆

الله یارافریدی : دکاکړو په (بوزی) نومی ځای کښی اوسیده دپښتو ژبی شاعرؤ ادشعردیوان ئی درلود ، محمد هوتک وائی چه کلام ئی دشاتو په شان خوږدی ، یو غزل ئی په(پته‌خزانه) کښی راغلی چه یوبیت ئی دادی :

اوردی دمینی ماته بل کړسیخی وریت دی کړمه
ستادو مال په‌اوبوسوړ سوی لخگر به‌نشم

محمدعادل بړیځی : یوعلم اوپرهیزبرګارسړی ؤ په(شوراوک) اوسیدی ، ده د(محاسن الصلوة) په‌نامه یوکتاب نظم کړ یدی دمحمد عادل پلارمحمدفاضل هم یوپوه‌سړی ؤ ، چه‌د (روضهٔ‌ربابی) مولف دی ، یودوه بیته ئی دادی :

هغه خلق عاصیان دی ☆ چه‌په فرض کښی کهالان دی
علم‌فرض‌په‌هرسړی‌دی ☆ چه فرض نه‌کا څه کسان‌دی

ریدی‌خان مهمند :دغیاث‌خان‌زوی‌دی‌چه دشاه‌حسین په‌دربار کښی یومخوراومعزز سړی‌ؤ - محمدهوتک‌وائی‌چه‌ریدی‌خان دبلاغت علوم لوستی‌دی او اشعارئی خوازه‌دی،ریدی‌خان په (۱۱۳٦ه) کال له‌شاه محمود سره (اصفهان) ته ولاړ ، چه واپس راغی نودمیرویس‌خان له‌وخته څخه‌ئی دشاه محمود تر جګړو پوری ټول واقعات په څلور زره بیته مثنوی نظم کړ ل ، اونوم‌ئی پرې (محمودنامه) کښبودوائی چه شاه حسین په دې کتاب زرطلاوی وروبښلی ده دغزلو اور باعی ګانو یودیوان هم‌درلود د(محمودنامې) بوباب‌په‌پته‌خزانه کښی ساتل شوی دی چه دلته څو بیتونه دنمونې‌په‌ډول‌راوړو دحاجی میرخان مناجات درسول کریم (ص)په‌ر وضه کښی :

ولاړ دشپی ئی په یثرب کا فریاد
رسول د خدای ته چه شو قوم برباد
ستا په امت راغی دظلم دوران
واوره رسو له دد ی قوم فغان
پښتون خو ستا په نامه ځان کړ فدا
ای‌خیرالناسه واوره ته ئی ندا
وژغوری دوی ته دظالم له لاسه
ګرګین له منځه د پښتون و باسه
ستا په نامه دی کلمه ګویه پښتون
نه‌به شی هیڅکله له تانه راستون
مرګ اوژوندون ئی د اسلام دپاره
ستا د دربار ، ستا دسلام دپاره
مه مو کړئ هېر خیرالو را رسو له
فخر کو نین نور الهدی رسوله
اوښکی می څاڅی پر دربار یم ولاړ
قوم شو په او در ظلم ټوله لتاړ
یووار نظروکړه پر موږ چه شو وړ
و ظالما نو ته تر څو به یو پرې
که‌ستانظر نه‌وی خراب شوپښتون
په‌اوردظلم تور کباب شو پښتون

دامثنوی حقیقة خورا اغیزه‌ناکه ده اوپښتنی سپېڅلی احساسات پکښی‌تصویر شویدی اودپښتو دادب یو شهکار دی .

محمدطاهر زمریانی: دهوتکو ددوری یو پښتون شاعر دی په‌قندهار کښی تجارت درلود ظریف اوشوخ زلمی‌ؤ ، په ( پټه خزانه) کښی یې‌داشعارونمونه ساتل‌شویده :

محمدعمر : په‌څټه‌لوان هم یوپښتون شاعر دی ، دی دمحمد طاهرملګری ؤ، دوی به همیشه‌یوله‌بله سره خوش طبعی کوله یوه‌ورځ محمدعمر په مجلس کښی دټوکی په ډول محمد طاهرته داقطعه وویله:

وائی داچه صحبت کاندی یر له بله ډېر اثر
په کلو دمصاحب شوم ستاصحبت نه‌کرمه خر

نومحمدطاهر ئی په ځواب کښی داسی سمد ستی وویل :

صحبت ډېر اثر کا ګوره منکر نشی د اثر
ته دمخه هغه شی وی اوس‌انسان شولی بشر

محمدایاز نیازی: یوپرهیز ګار سړی او د پښتو اشعارو دیوان‌ئی‌درلود ، اشعارئی عارفانه او پاخه‌دی که څه هم اصلا دقندهار ؤ، خوتل به په صحرا ګرزېده اوریاضت به ئی ایست دغه‌لاندی رباعی دمحمدایازده :

زړونه خوښ کړه دانیکی‌ده په ربښتیا
مګړه چا باندې تېر نه ، په جفا
دخدای کورمه ورانوه په ستمونو
دخدای کورو ګڼه زړه چه‌وی صفا

محمدحافظ : دمحمد اکبر زوی په‌کام بارکزی دی ، دی یوعالم اوواعظ سړی‌ؤ، په‌قندهار کښی اوسېده ، ده‌به په خطبو کښی‌خپل‌اشعار ویل‌اوخلقوته‌به‌ئی وعظ کاؤ ، دی‌دتحفة الواعظ په‌نامه یوکتاب لری چه دشعر نمونه‌ئی داده

کم بختې مکوه حرام چه بد دی
چه کړی حرام هغه باطن کښی‌ددی
اعمال ئی ټوله په عقبی کښی ردی
په لویه ورځ به ئی وی تور مخونه

ملاباز توخی: دکلات په «اټغر» کښی او سېده ،دمحمد هوتک‌ملګری اومعاصرؤ محمد هوتک لیکی: چه باز په هرډول اشعارو کښی قدرت درلود ، د لطیفی طبعی خاوند دی کله چه قندهار ته راشی ز موږ مجلس په تود وی ، ملا باز یوه ورځ له کلات راغی او په قندهار کښی دمحمد هوتک میلمه شو هوتک چرګ ورته ذبح کړچه ډوډی راغله نو ملا بازداسی شعرووایه :

پر کوروئی رمی کرزی دباز برخه یو چیچی دی
دبا ز ښکار وی دغر څنو اوس‌می‌بس‌ها سپینکی‌وری‌دی

محمد هوتک وائی چه مازرهغه سپین وری هم حلال کړاوده ته می پوخ کې .

نصرالدین اندړ : دشاحسین ددربار له شاعرانو څخه ؤ ،دی اصلاً د غزنی دی،خودشاحسین په دوره کښی قندهار ته راغی او هوری پاته شو . .

نصرالدین دپښتو دشعر دیوان درلود ، او نصرئی تخلص ؤ دډه د کلام نمونه داده :

دخوار عاشق ژړامدام وی داڅه کاردی نا
کوی په پته خوله همدغه ئی گفتا دی نا
ددی مینو په زړه رب اینې داغونه دی
چه په ارمان د نبایسته زبیامخونه دی
تل ژړا کا ندی په نارو په فریادونه دی
څوک چه عاشق شی دهغو کله قرار دینا

عبداللطیف اخکزی : دغلام محمد زوی دی له(بستان) څخه قندهار ته راغلی ؤ ، اوپه ماشورکښی اوسیدی ، عبداللیطیف دشعر یوه لطیفه طبعه درلوده ، محمد هوتک وائی چه دی اوس ٦٤ کلن دی خو سره لدی دلخوانی خوشحالی کا مجلسیان یی په صحبت نشاط مومی ، په مجلسو کښی بدا هتا اشعار وائی قصه کا ، دده داوښ اوسوی قصه په پته خزانه کښی راغلی ده چه خورا خوښه اوروانه ده ، څوبیته ئی دادی :

غوږ ونیسی یارانو داوښ اوسوی قصه شوه
خورا ډیره خوږه شوه

☆ ☆ ☆

یو سوی داوښ آشنا شو بیحده ئی همراه شو
یاری به ئی کوله یوله بله یارانه شوه خوراخوږه قصه شوه

☆ ☆ ☆

اوښ ویل چه سویه ☆ ای زمایاره نیک خویه
بی تامی ښادی نشته شیه او ورځ می په تابنه شوه
خورا خوږه قصه شوه

☆ ☆ ☆

صدردوران بهادر خان : داسړی دشاه حسین د دربار یو غښتلی سپه سالار ، یو زړور عسکر او یوپښتون ادیب اوشاعر هم ؤ شاه حسین په ورته دورور خطاب کاوه اوعوامو (امیرالامرا) باله ده له عالمانو ، ادیبانو سره ډیره مینه لرله ، اوپخپله به ئی هم خوازه اشعار ویل ـ وائی بهادرخان خورا سخی اوڅوان مرد سړی ؤ همیشه به ئی دغریبانو مدد کاؤ ، اوعالمانو شاعرانو ته به ئی انعامونه ورکول ، ددهدیوې ملی سندری څو بنده دادی :

بیلتون دی زور وردی ترلیمومی سهار نم څاځی ☆ لکه شبنم څاځی
داسره یاقوت منی په لمن کښی ستا په غم څاځی ☆ په غم الم څاځی
گوره لیلی باران داوښکوستا په چم څاځی ☆ څنګه پر غم څاځی
راغله لیلی په شینکی خال نخا په گلو کوی ☆ په سرو منګلو کوی
سهار چه وزی سیل کاغبز په بلبلو کوی ☆ زیب په کجلو کوی
ملالی سترگی ئی کاته په وبرژلو کوی ☆ گل په اوربلو کوی
دژوبل زړه وینی په هر گړی، هردم څاځی ☆ لکه شبنم څاځی

☆ ☆ ☆

محمد هوتک : داسړی د پښتو ژبی یونومیاړی لیکوال ، شاعر او مؤرخ دی ، پلارئی داؤدخان نومیده ، دی په ( ۱۰۸٤ه ) کال په کوکران کښی زېږیدلی ، اوپس له تحصیله د شاه حسین په امر قندهار ته راغی او د دغه پاچا د حضور ادبی لیکوال وټاکل شو دده خورا ګټور اثر چه دپښتو ژبی ادبی شهکار دی « پټه خزانه » نو مېښی ، داکتاب ده د شاحسین په امر په ( ۱۱٤۲ ه ) کال تمام کړی اود ( ۲۹ ) تنو پښتنو شاعرانو حال او اشعار پکښی بیان شویدی ـ محمد هوتک (دخلاصة الفصاحه) په نامه یوبل کتاب هم په پښتو لیکلی ، اود فصاحت علم ئی پکښی بیان کړی دی ، یوبل علمی اثرئی خلاصة الطب ،، نومېښی ، پهدی کتاب شاه حسین زر طلاوی صله ورکړی وه ، محمد هوتک د اشعارو یو دیوان هم لری ، دی وائی چه زماعمر په لوستلو اود کتابو په کښلوتېرېښی ، اوبل شغل نه لرم ، دده د کلام نمونه داده :

ساقی پاڅه دسرو ملوډک یو جام را
ستاله غمه نا آرامه یم آرام را
بی له میو د بهار نداری څه کړم
پسرلی شو د خوښی یوښه پیغام را
دېلتون په تاریکو کښی می زړه شین شو
رنړا لمر د جام د میو په ظلام را
نه نشاط شته ، نه رندی شته نه مستی شته
چه شم رند هغه اوبه علی الدوام را
په اوبو می سوې زړګی لبزڅه را تودکا
محمد ته داور ډک یوهسی جام را

☆ ☆ ☆

دپټی خزانی دنثر څرنګوالی : پټه خزانه نه سر بېره پخپل تاریخی اهمیت چه لری ئی دنثر له مخې هم یو خورا قیمتی اثر دی، ددی کتاب نثر دپښتو په پخوانو ، اود دولسمی پېړۍ په نثرو کښی ساری نلری ـ دخیرالبیان اواخون دروېزه نیم منظوم نثر که څه هم دخوشحال خان او عبدالقا در خان په وخت کښی څه اصلاح شوی اودشعر له رنګه راوتلی دی مګر بیاهم دپټی خزانی نثر ته نه رسیږی ، محمدهوتک یوروان ،ساده ،دپښتو په محاوره برابر نثرمیدان ته راوړی او دمسجع اوقافیه لرونکی نثر کړۍ

ئی‌ماته کړه لحکه ده په‌نثر کښی یوبیل (سبك) غوره کړی‌دی چه‌عصری سبك ئی‌بللی‌شو - د«عیاردانش»او«گلدستی» نثرونه که‌شه هـم مسجع نه‌دی ، مگر سره له دې هم جملی‌ئی خـورا اوږدی اود عطفو نو استعمال ئی له سړی څخه‌مطلب ور کوی خودپټی خزانی‌دنثر جملی وړی وړی دی او عواطف هم نسبتا لږ پکښی استعمال‌شویدی - پدې لحـاظ د محمدهوتك و نثرته غوره نثر و یلای شو ...

دپټی خزانی دنثر دایوه نمونه ولولی :

پادشاه‌عالم‌پناه په‌ارګ کښی دقندهار، هغه قصر چه نار نج باله‌شی هلته په‌هفته کښی یوه‌ورځ دربارکا، په کتب خانه کښی اوپه مجلس کښی علماجمع کېږی ، اوفضلا ، اوشعرا ټولوی - زه محمد هوتك کاتب ددې کتاب هم پدې مجلس کښی یم ، او دپادشاه ظل‌الله اشعار ، اوابیات په‌قلم کاږم ، اوکتاب ددیوان ئی‌مرتب شویدی ، کله په‌پښتو ژبه اشعار وائی ، او کله پارسی ژبی‌ته‌هم میل‌کا -اواستاذ العلما ملایارمحمدته‌یی قرائت کا- چه سهو، سقم‌څنی زائل‌کا، اودپادشاه په‌اشعارو کښی لږه سهولیده شی، اوعلمایی ټوله‌په‌فصاحت‌او بلاغت‌قایل‌دی اوسماع ته مایل»

د هوتکو د کورنۍ شاعرانی ښځی :

میرمن‌نازو : دپښتو ژبی شاعره اویوه ادیبه پښتنه وه ، نازو دحاجی میرویس‌هوتك مور اودسلطان ملخی تو خی (۱۰۶۸ه) لور کېده ،دایوه‌شجاع ،سخی اوپوه میرمن‌وه ، وائی چه‌میرمن نازو په‌دوه زره بیته مشتمل یودپښتو دیوان درلود ، دا رباعی دمیرمن‌نازو په‌پته‌خزانه کښی‌راغلی ده :

سحر گه وو د نرګس لیمه لانده
څاڅکی څاڅکی ئی‌له ستر گو څخېده
ماوی څه‌دی کښلی ګله ولی‌ژاړی
ده‌ویل ژوند می‌دی یوه خوله‌خندېده

محمدهوتك وائی چه‌میرمن‌نازو نورهم داسی اشعارلری چه مېړونه‌ئی هم‌ژ شی‌ویلای-ددې پښتنی‌میرمنی ترټولو ، لوی صفت دادی چه ددې دغیرت او همت ، پوهی او تدبیر په غېږ کښی دحاجی میرویس غوندی یو پښتون سردار پالل شوی او روزل شو یدی .

میرمن‌زینبه : دحاجی میرویس لور او یوه اد یبه او عا قله میرمن‌وه ،دې دپاچاهی‌ر په‌چارو کښی هم یوښه فکر درلود ، دې‌پښتنی میرمنی به‌له‌خپل ورور شاه‌حسین سره دحل او عقد په چارو کښی فکری‌مرسته کوله ، میرمن ز ینبی خورا ښه اشعار هم‌ویل ،دې‌به دپښتو شاعرانو قدر کاوو او د هغوی دیوانونه به ئی لوستل .

دی‌دخپل ورور شاه محمود په مرګ یوه سوزناکه مرثیه ویلیده چه‌دهغی مرثیی یوبنده دادی :

زغ‌شو چه ورور تیر له‌دنیا شونا
قند هـار واړه په ژړا شونـا
زړه می په‌وبر کـښی مبتلا شونـا
چه‌شاه‌محمود له‌ما جلا شونا

☆ ☆ ☆

دا روپ جهان را ته تور تم دینا
زړه‌دبهلتون په غم کړم دینا
هو تك غمجن په دی مـاتم دینـا
دپاچاهی‌ر تاج‌مو برهم دینـا
چه شـاه محمود تېر له دنیـا شونا
قندهـار واړه په ژړا شونا

☆ ☆ ☆

ځوان ؤ مېړه د توري جنګ ؤ نا
ولاړ دکام په‌نام ونګ ؤ نا
دښمن له ده په و ینو ر نګ ؤ نـا
پرمیدان شیرؤ یاپلنګ‌ؤ نا
افسوس چه مرګ دده پخوا شونا
قند هار واړه په ژړا شونا

☆ ☆ ☆

محموده نه دی یوازی خور ژاړی
پرمرګ‌دی ټوله‌کلی کورژاړی
خپلوان لاځه پاچادی ورور ژاړی
لښکر سپاه‌دی پلی سپور ژاړی
پښتون دی ټول په و اویلا شونـا
قند هار و اړه په ژ ړا شو نـا

☆ ☆ ☆

هوتکو ژاړی محمود شاه څه‌شونا
پښتنو ستاسی لوی سپاه څه شونا
له ا صفها نه تر فراه څه شو نـا
پـادشاه چه ؤ حشمت پناه څه‌شونا
دپښتنو پرتم فنا شونـا
قندهارواړه په‌ژړاشونا

ددې دوری ځینی غیرمعروف شاعران : د هوتکو په دوره کښی‌ځینی نورهم‌داسی شاعران تېر شویدی چه دهغوی په باره کښی کوم بشپړ معلو مات په لاس کښی نه لرو صرف دپادری هیوز انګریز په ښوونه چه ده په‌خپل‌اثر (کلید افغانی) کښی ، ددوی اشعار راوړی دی ، داپښتانه شاعران پېژنو ، خوددوی داشعارو له نمونو څخه څرګـند ېږی چه پښتو ژبی زبر دست

ادیبان دی اواکثره ددیوانو خاوندان هم ؤ ، خوهر کله چه د ځینو اشعار ساده ، اوځنی ئی دلوړو تخیلاتو خاوندان دی ، نوویلای شوچه‌ددوی یوه‌ډله درحمان بابا په‌ادبی ښونځی کښی داخل اوشه‌نورئی دحمید دسبك پیروان اوشاگردان‌دی ، دزمانی په‌لحاظ بعضی دعبدالقادرخټك‌معاصرین اونوروارپه‌له(۱۱۰۰ه) راپدیخوا تپرشوبدی اوددوولسمی پیړۍ شاعران ګڼل کیږی چه‌نومونه‌ئی دادی : کاظم خټك ، معزالله ، عثمان، عبدل،اشرف فاضل . ابراهیم ، فضیل : حسین ، مهین ، عصام ، ابو القاسم ، صدیق ، غفور . فتح‌علی ، علیم ، عبدالصمد ، کامګار ، په کام خټك دی او(دبلو مهارت دفهرست) په‌حواله‌په (۱۱۶۵ه) کښی وفات شویدی ، وائی چه‌دمعزالله،ابوالقاسم اوکامګار دیوانونه په‌برتش موزیم کی‌شته .

سدوزئی‌شاعران پاچاهان :

احمدشاه بابا : لوی احمدشاه‌بابا سربیره پردی چه دپښتنو یو بریالی واکوال اوستر ټولواك‌وو ، د پښتو ژبی یوښه‌شاعر اواديب هم‌دی ، دې لوی‌ټولواك لکه‌دپښتنو خپلواکی ، هیواد، اوملی ننګ‌اوغیرت‌ته‌ئی چه‌لوړی کارنامی په‌یاد پری‌اینی‌دی، هغسی ئی دپښتو ژبی شعراوادب ته‌هم‌توجه درلوده اوپدې لیاره کښی‌ئی‌هم‌له‌ځان‌څخه پښتنو ته‌ادبی افتخارات‌پری اینی‌اوله‌توری سره‌ئی‌قلم‌هم‌درلود،ځکه‌احمدشاه‌بابا‌دپښتوداشعارو‌یومرتب‌دیوان لری چه‌په(۱۳۱۹ش) کال‌په کابل‌کښی پښتوټولنی چاپ کړیدی دده دیوان کم او زیات‌دری‌زره اشعارلری، دبیان طرزئی ساده اوروان دی اودتصوف په‌اشعارو کښی درحمان بابا پیروی کوی حماسی ډډه ئی پښتونوالی،توریالی توب ، وطن دوستی زړورتیا عزم ، تینګه اراده اوداسی نور دمیړانی‌صفات راته تمثیل کوی لکه چه وائی :

ستادعشق له‌وینو ډك شو ځګرونه
ستا په‌لاره کښی‌بایلی ځلمی سرونه
که هرځومی‌ددنیا ملکونه ډپرشی
زما به هیڅ نشی داستاپنکلی باغونه
دډیلی تخت هیڅوم چه راپه یاد شی
زما ښکلی پښتو نخوا دغروسرونه
که تمامه دنیا یوخواته بل خوا ئی
زما خوښ دی شتاخالی‌وچ ډګرونه

☆ ☆ ☆

احمدشاه باباټول پښتانه ملی وحدت ته راغواړی :

ټوله‌یودی که‌غلجی که ابدالی دی
ښه هغه چه ئی ښیښه دزړه صفا ده
پښتانه‌دی ټوله‌لاس سره یو کاندی
چه‌مونږ غزا هرلوری شاؤ خوا ده

☆ ☆ ☆

دتوری او ننګ په باب کښی فرمائی :

په برېښنادتورې ژوند کوه احمده
دبری جولان په‌لور دهردیار کړه
پرننګ مړ خوشه مړ نه دی
د بی ننګه ژوند جفا ده
لا س به و ا نخلم له ننګه
که په ننګ پاته د نیا د ه .

بل‌ځای وائی:

چه‌دهند دملکو فتحه می نصیب شوه
نور ایران لره په‌توغ اونغاره‌ځم
په‌دی کړی دادی خدای نشی ناراضه
ترنګین می ایران لاندی شاهانه ځم

تیمورشاه: داحمدشاه بابازوی هم دپښتو ژبی ادیب‌اوشاعر دی، دی‌په‌پارسی کښی‌هم یودیوان‌لری خوله بده مرغه دپښتو اشعارئی نه‌دی تدوین‌شوی هر ځای په‌پراګنده ډول سره لیدل کیږی، هغه‌اشعارئی چه‌لیدل شویدی زیاتره عشقی او درحمان بابا‌پیروی پکښی‌څرګندیږی، دده داشعارولاندی نمونی ولولی

ننمی‌بیاله توروستر ګوسره جنګ‌دی
پرلبانوئی د زړه د وینو رنګ دی
که پرپکړی سر په لاس ورلره ورشم
لا په‌دائی باورنشی زړه ئی سنګ‌دی
ستادحسن لښکر راغی ځان‌ئی بایلود
دعاشق دزړه میدان هر ګوره‌تنګ‌دی
عشق‌دی مشك‌پتول نشی تیمور شاهه
چه پخپله ځان رسوا کاهغه ر نګ دی

☆ ☆ ☆

ملاعبدالرشید: دسلطان‌حسین زوی په خټه قریش دی، دی په‌لنګر کوټ کښی اوسیدی، عبدالر شید یو عالم اودپښتو ژبی شاعردی، په(۱۱۶۹ه)ئی درشیدبیان په نامه یوکتاب په پښتو نظم کړی چه‌ددینی او عقیدوی مسئلو مجموعه ګڼله کیږی داکتاب په‌پښتوکښی خورا مشهور اومروجدی ، شعرئی‌خورا روان او آسانه‌دی څو بیتونه ئی دنمونی په‌ډول :

چه محکم په لمانځه او سی — له د نیا به ایمان یوسی
هم‌به‌خدای پرې رضا من شی — پرې‌آسان به ځنکندن‌شی
پاك رسول به‌ئی شفیع شی — ملائك به ئی مطیع شی
په ښې لاس به نامه ورکا — سخته ورځ به‌ئی اختر کا

خانګل‌خلیل: دپښتوژبی ښه‌شاعردی ، د (۱۱۵۰ه) په حدو دوکښی دپښور په‌شاوخواکښی او سېدی ، دی دحمید دسبك پیرودی داځو بیتونه دده دی

داحسینه پری مسته پـه خوا راغـله
که‌ومخکی ته سپوزمی دسما راغله
خانگـل، گـل‌دمضمون‌ټول ترهسی‌حد کړ
چه بلـبـله د پارسی په ژړا راغـله

پیرمحمدکاکـړ: داسړی له(ژوب) څخه قندهار تـه راغلی اوداحمدشاه بابا ددربار په عـلماؤ، شاعرانو کـښی ومنل شو داحمدشاه بابا دزامنو بالخاصه‌دشهزاده سلیمان‌استاذدی اودپښتو په‌خدمت کښی خوراستره برخه‌لری، دمعرفت‌الافغانی په نامه‌ئی یو کـتاب لیکلی‌دی اودپښتوژبی ابتدائی گرامر گـښل کـښی ځنی‌لغات‌هم‌پکښی راغونډشوی، دنثر برخه هم‌لری، نثرئی‌روان اوپه‌محاوره برابردی، دپښتودیوان‌ئی په(۱۱۹۶ه) کښی تدوین کړی، شعرئی‌متین اواستادانه‌دی دکلام نمونه‌ئی لاندی ولولی

سوزگـدازمی دعشق زده کړله‌پتنگه
اوس هنرمی په‌څراغ د مینی سوی‌دی
ساقی چه را کـړه پیا لـه دمینـی
نوری پیالی می ذری ذری کـړی
پـه بوی د زلفوئی لهونـی کـړم
چه‌په بـار خوئی نسیم خوری کـړی
غو تـی‌ر د گـلـو پر غوړیدو ده
بلبـله راشـه کـه ننـداری کـړی

دپیرمحمدکاکړرباعی:

جفا دیار کړم خاطر ناښاده — زهره‌می چوی له‌آه‌فریاده
روح‌می‌تازه‌کړه په‌بوی‌دزلفو — درب دپاره د صبا بـاده

-عبدالرحیم هوتك: عبدالرحیم دقندهار له‌مشهورو شاعرانو څخه‌دی، په‌اصل دکلات د(ښه‌بولان)ؤ خوپه قند هار کښی میشته شو، هغه‌میال چه افشار نادر قندهار ونیو، عبدالرحیـم بخارا سمرقندته ولاړ، هوری‌ئی‌دوطن په‌فراق کښی عمر په‌غربت سره تپر کړی اوخوراسوزناك اشعارئی ویلی‌دی، دده دیوان د رحیم قندهاری په‌نامه ،دپښور د اسلامیه کالج په کـتاب خانه کښی پروت‌دی، اودانسخه‌په (۱۲۷۹ه کی) کښل‌شوی‌ده ، دی دساده وینا‌خاوند اودرحمان‌بابادسبك پیرو معلومیږی ، عبدالـر حیم دعربی‌علومو پوهاند، اوپه‌عشقی اخلاقی‌وطنی‌اشعارو کښی‌ئی‌خورا مهارت‌څرګـندکړی ،دده‌دکلام‌نمونه :

که‌هزارځله تقوی پرهیزګـاری کړی
ښه‌دی‌نشته چه مدام دل آزاری کړی
دزړه ولی می په تاپسی پر بکـښی
راته وګوره قـربان دی د دیدارشم

☆ ☆ ☆

ښایسته قند هار ډبـر ډ بـر یـادومه
نه هیربیزی کـه هرڅو ئی هیر ومه

☆ ☆ ☆

شیرمحمدهوتك: د قـندهار له‌مشهورو عالمانو څخه‌ؤ :دی‌په (۱۰۹۲ه) په قندهار کښی زیږیدلی ، اوبیا په (۱۱۷۵ه) کال وفات‌شویدی، دی دپښتوشاعردی اویو کتاب‌ئی د اسرارالعارفین په‌نامه په‌لنډمثنوی نظم کړیدی ،مضامین‌ئی دینی اومـذهبی دی بل‌اثرئی تجوید افغانی دی چه دعلم قـرائت بحث کوی ، دده دکـلام‌نمونه :

له‌اسرار العارفین‌څخه :

نه ئی شکل نه صورت شته — نه‌ئی‌خوب نه ئی غفلت شته
نه دی جسم نه جوهـر دی — نه عرض نـه مصور دی
نه معدود دی نه محدو ددی — نه معدوم دی نه مفقود دی
هر چه عقـل ور رسـیږی — هیڅ‌صفت پری نه جوړیږی
که‌څه عیب‌دی که نقصان دی — منـزه ځنـی سبحان دی

☆ ☆ ☆

له‌تجویدڅخه :

ته اصـلی حر فونـه ورورہ — دقر آن اته و یشت گوره
بیا هر حرف سره مقـام دی — چه مخـرج دهغه نـام دی

سعادت خان : اصلادهنددبهار دصوبی‌دی خوپه‌کابل اوننګر هار کښی‌ئی هستوګـنه لرله په پارسی، هندی‌او پښتوژبه پوهیده په(۱۱۵۰ه‌کال)ئی په‌کابل‌کښی کـیمیای سعادت په لنډه پښتو مثنوی نظم کړی مضامین ئی دینی او طبی دی شعرئی ابتدائی بللی‌شو ،

ابراهیم‌خان‌کاکړ: دپیرمحمدشاګرد ؤ ، دی تر(۱۲۰۳ه ) پوری ژوندی‌ؤ دی دپښتوژبی شاعر او وائی چه‌خوازه اشعار به ئی ویل .

میافقیر الله جلال آبادی: د عبدالرحمن زوی دی ، په‌خاص حصـارك کښی زیږیدلی ، دخیـل عصـر ستر عالـم ؤ ، احمدشاه بابا پـرده شه عـقیده در لوده ، پـه عربی کـښی تالیفات‌لری‌عارف سړی‌دی‌ء د«فوائدفقیرالله» په نامه‌ئی‌یو کتاب په‌پښتو نظم کړیدی دی‌په(۱۱۹۵ه) کال‌په‌ښکارپور کښی وفات شو اوهوری ښخ دی .

اخون‌گدا : داحمدشاه بابا معاصردی ،دده(نافع‌المسلمین ) په‌نامه سره یو کتاب په‌پښتو ژبه نظم کړیدی ، مضامین ئی دینی دی، دده ځنی غزلونه هم لیدل شوی او څرګند پښی چه مستقل دیوان‌ئی هم درلود ، دده کتاب عشقی او عرفانی اشعار لری ، درحمان بابا دښونځی سره اړه‌لری ، دده‌د کلام نمونه :

دسحر چرگه خوږ شی په کو می
چه تا ناری کړی دلبر می د رومی
یومی دلبر لخی بل رانه زړه وړی
زړه می په داوړی چه دلبر نومی

☆ ☆ ☆

ماوی ستاددر گدایم هېرمی نکړی
شاه وی کله هر گدا دی ز ما یاد

☆ ☆ ☆

جان‌محمد : دپښتو اوننگر هار دخوا له‌شاعرانو څخه‌دی ، داحمدشاه بابا معاصر اویو کتاب‌ئی د(نورنامی) په عنوان نظم کړیدی، اشعارئی مذهبی دی، پښتانه شعرا دده داشعار و نمونه ښوولی ده، میرزا حنان وائی :

جان محمد ،حافظ کاکړ په نعت ومدح
سیال ئی نه ؤ په پښتو کښی په وېل

☆ ☆ ☆

برهان‌خان: د ښاغلی عبدالله افغان‌نویس دیوه زاړه جنگ له‌مخی داحمدشاه بابا له‌معاصرینو څخه‌دی، دلاندی منظومی‌څخه ئی‌معلومېږی چه دی‌د(پانی‌پت) په‌جگړه کښی شاملؤ ، پلارئی (نادر) نومیده چه دهزاره ؤ په علاقه کښی او سېدی وائی چه برهان‌خان دخواص خان اوافضل‌خان خټك جگړه ، اودادم‌خان اودرخانی‌قصه‌هم نظم کړیده ،ده‌داحمد شاه بابا د پانی‌پت‌جگړه په‌یوه ملی قصیده کښی داسی حماسی ذکر کړیده :

احمـد شاه بابا په جار و و یله
د غـزل په نـیت و ز م ۱له کا بله
پښتنی،میرنې لاندی کـړی کـفارو
دا خبره می په زړه و گر ز ېد له
یا به‌ننگ دپښتانه ببرته په‌ځای کړم
یا به‌بایلم ککری پرې باندی خپله
داټك په‌سیندئی دوه پلونه تیار کړل
پاچا پر ېوؤت په(مانجه)ئی مېشته کړله
هرسپاهی له برېښو نه کم نه و و
د(روتاش) کوټ‌ئی بی‌جنگه واخستله
دباهو، نه لکه فوځ ور پسی راغی
شپه او ورځ ئی خالی نه‌وه له مزله
مخامخ‌شوچنگ‌ئی خښن کړ په‌میدان کښی
دوه ر خه ئی تو پخا نه و چلو له
سمندخان، مومن خان دواړه‌شهیدان‌شو
احمد شاه دزړ گـی ستن و نړ په‌له
اووه ورځی وه‌تیاره بیارنهائی شوه
د بـا هو تنه بر مخکه رغړ ېد له
مرېټی په کور د غم ناری سوری شوې
پښتا نه تو ر ه ئی هـا له و منـله .

میاعمر څمکنی: دامشهور عالم ، رو حانی سړی داحمد شاه بابا معاصردی ، دی د پېښور په څمکنو کښی اوسېدی ، ده د پښتنو (نسب‌نامه) په‌پښتو نظم لیکلی چه‌حیاة‌خان ئی‌نمونه پخپل‌تاریخ حیات افغانی کښی ساتلی‌ده ـ میاعمر صاحب هم‌پخپله دپښتو ژبی شاعر ؤ،اوهم‌ئی په‌اولاده اومریدانو کښی د پښتو شاعران لکه (مسعود گل، محمدی ، اونور) تېر شویدی ـ محمدی‌صاحب زاده دمیاعمر زوی دی چه‌دپښتو ژبی شاعردی ، اوښکلی دیوان ئی درلود ، کاظم‌خان وائی چه محمدی د سخن شناسی سلیقه‌لری، دخبرو په‌بنایست کښی له‌ملگرو څخه په‌مخ تللی‌دی ، دیوان ئی پادری‌هېوز لیدلی ،محمدی‌کله دتخیل په‌محیط کښی د حمید‌پرپله تك کوی ،اشعارئی عشقی دی د کلام نمونه‌ئی :

نه‌یوازی لاله گل‌دی‌ډوب دسروو‌ینو په‌جام کښی
ستا دغم وژلی واړه لخی خښېزی گلگون هسی

☆ ☆ ☆

مسعود گل پاسنی : د(۱۲۰۰ه) کال‌په شاو خوا کښی ژوند کاؤ ، د میاعمر څمکنی مریددی دی یوپوخ شاعر اودخپل‌پیرپه وصف کښی‌ئی یوه‌پښتو مثنوی‌ویلی‌ده چه‌یوه خطی‌نسخه‌ئی دلندن په‌موزیم کښی خوندی‌ده ،داحمدشاه بابا جگړی ئی په یوه بله مثنوی کښی بیان کړیدی چه‌پدغه‌منظومه کښی‌ئی خپل‌شعری‌قدرت څرگند کړیدی ، دی بو حماسی اورزمی شاعر دی څو بیته ئی دنمونی په‌توگه لاندی‌ولولئ :

جـان‌محمد درانی دارنگ‌حکـایت کـا
حکـا یت د ا حمد شاه د ولایت کـا
اول کال چه شه داخل په هندوستـان
د پنجاب له ملـکه تېر گیتی ستـان
ارا ده ئی و شو ه بیـا د قند هـار
اومهم ئی کـړ مو قوف دهند و بـار
چه داخل په قند هار د شـاه قدم شو
نو هرات‌ته عز یمت پـه هغـه دم‌شو
له فراه نه چه پـا د شـاه و کړ عبو ر
هرا تیانو دوی مو زه شو لو محصور
که‌ترې تښتو په‌هیڅ‌لوری نه خلاصېږو
په کلا کښی که کښېنو ، نو حصار پېزو

☆ ☆ ☆

دا حما سی منظو مه خو را او زده ده چه پر هرات باندی داحمدشاه سخت جنگونه بیانوی او بیائی دفتح دور ژغوی،اشعار ئی صریح او شاعرانه دی ...

فیض‌الله کاکړ : دملا بابړ زوی‌دی، په‌قندهار کښی ئی استوګنه لرله ،یوعالم اوپرهیزګار سړی وُ داحمدشاه بابا له‌زمانی څخه دشاه‌زمان تردوری‌پوری ژوندی‌وُ، یوځو بیته ئی دادی :

که دعشق له کړه خلاص‌شوم زه به نذر کاندم غړی
دعشق اور هسی ستی کړم لکه پنده او سپین خړی
ورك‌یم ستا به‌مینه ګوره‌لاس‌رااوزد کړه چه پرلارشم
ما په دواړو کونو ستا دی په ر ښتیا نهو لی پړی
په‌اوربل چه‌دی‌سورتیك‌شو زما په زړه‌داور سکروته
پرتېر دی لونګین دی زما د مرګ پیغام راوړی

☆ ☆ ☆

ملاعبدالکریم : دخپل عصرمشهور عالم اوروحانی سړی‌وُ، په‌لغمان کښی اوسېدی ، تدریس او و عظ په‌ئی کاوُ میا صا حب دپښتو ښه شاعر هم وُ ، دی په(۱۲۰۷ه) کښی وفات‌شو ، اود علی‌شنګ، په دره کښی ښخ شو،د کلام نمو نه ئی داده :

که‌می دامینه روزی شی له دوامه سره
لکه الف چه‌وصلت بیاموهی له لامه سره
اول‌دې‌خوب په‌نالیچو په پشمینو کو لی
اوس‌دی د ګور چینجی مستی کړی له‌اندامه‌سره
اول‌دی ښی‌لوړی‌مانې بیادی‌باغچی‌جوړی کړی
اوس‌دی مرګی خوّنه اواره کړه له‌بامه سره

حافظ : دا سړی ددې دو ری شاعر دی ، ده د ( شاهنا مهٔ احمدشاهی) په‌نامه‌یوه منظومه په(۱۱۷۲ه)کال جوړ کړیده ، چه‌داحمدشاه‌بابا سوانح اوجنګی کارنامی ئی پکښی بیان کړی دی .دامنظومه (۱۲٤) مخه‌لری ، دسر بیتونه ئی‌دادی :

اول ثناده دسبحان چه پادشاه دی دجهان
که‌هزار می‌شی زبان په‌خوقسمه کـه‌بیان
نه به شی له ما ادا که ګویا شی واړه‌دا

☆ ☆ ☆

د اخر بیتونه :

شاهنامه می شوه منظوم په کاغذ باندی مرقوم
ای حافظ طو طی زبا نه ژبه بند کړه له بیا نه
په‌دا ختم کـړه ګفتا ر په تنظیم مه کړه اشعار

☆ ☆ ☆

دااثر خورا یومهم کتاب دی خوله‌بده‌مرغه ټول‌کتاب لاس ته نه‌دی راغلی ، او رندانو بر تش موزیم ته وړی چه هوری خوندی‌دی ، نورئی دمؤلف په‌باره کښی هم ډېرمعلومات نلرو.

اکبر : داسړی غیر له‌زمین‌داوری اکبرخځه یو بل سړی‌دی، داسړی په(۱۰۱) مخو کښی یودیوان لری چه هغه هم دلندن په موزیم کښی خوندی‌دی، دا کتاب دبلو مهارت دفهرست په‌قرار د اتلسمی عیسوی پېړی په اخر کښی لیکل شوی دی نو دده د ژوند زمانه د (۱۱۵۰ه) په حدود کی ده .

نجیب یوسف زی : د(۱۸۸) مخو نو په اندازه د اشعارو دیوان لری چه‌لندن ته‌ئی وړی دی، نودی‌هم د دولسمی پېړی دشاعرانو په ډله کښی حسابېږی .

محمدمظفر : داسړی دپښتو ژبی یوزبردست نثرلیکو نکی دی ،پلارئی ملااسمعیل قریش اودخوشحال‌خان له کورنۍ سره ارتباط لری، محمد مظفر دافضل خان‌ځټك له ملګرو څخه وُ ، ده په (۱۱۲٦ه) کښی‌دافضل په‌تشویق د(اعثم کوفی تاریخ) له پارسو څخه په‌پښتو ترجمه کړیدی،دانسخه پښتوتولنی په ۱۲۲٤ه کال‌دفتح محمدخټك له‌نسخی‌څخه چه(٤۹٥)مخه‌وه نقل کړی‌ده ، د کتاب په اخر کښی دا څو بیته هم لیکل شوی دی چه غالبا دمحمد مظفر له‌طبعی‌څخه دی .

په مـد د د پاك سبحان په اقبال د عا لیشان
چـه تار یـخ اعثم کـوفی په‌پښتو شو ، له‌پارسی
که‌قبول دخان صاحب شی مفتخر به ئی کاتب شی

دخوشحال‌خان داولادی لخینی‌غوره اثار : لومړی افضل‌خان خټك داشرف خان زوی، دخو شحال لمسی د خټکو د کورنۍ یو ځلاند ستوری او د پښتو د نثر په برخه کـښی خورا ستـر حقداردی ، افضل‌خان دخپل کورنۍ یو مدبر مشردی چه دخپل پلار ترمرګ وروسته ئی(٦۱) کاله دکام مشر توب وکړ ،کاظم شیدا ،دده دمرګ تاریخ (۱۱۸۳ه) کال لیکلی دی، افضل‌خان په‌تاریخ نویسی کښی خورا مهارت درلود ،دده لومړی معروف تاریخی اثر «تاریخ مرصع » دی ، داکتاب سربېره په دی چه تاریخ‌دی دنثرله مخی د پښتوبو ادبی شهکار هم ګڼل کېږی ، پادری‌هیوز وائی چه‌تاریخ مرصع عمومی تاریخ دی چه دپښتنو او خټکو حالات هم په‌کښی بیان شوی دی .

۲- دکابلی او دمنی «پښتو تر جمه ، چه «علم خانهٔ‌دانش » ئی‌نوم دی .

دافضل ددیوان چاځه نه‌دی لیکلی خوپه « علمخانه‌دانش » کښی‌دده هرځای لخینی اشعار راغلی‌دی چه‌یوه رباعی‌ئی داده . صورت می‌هرځو که‌ډېرزبون‌دی☆ که‌می دمخکی دلاندی یون‌دی زه‌به په لوری د اشنا خوز مم ☆ که‌یون‌می هرځو په‌شواخون‌دی

☆ ☆ ☆

دتاریخ مرصع دنثر نمونه : نقل‌دی له اخون درویزه نه چه په‌مخزن کښی کښلی دی‌چه عبدالله نو مېده اورمړۍ ، دکانې کړم په‌اورمړۍ کښی ،علم اوصلاحیت ئی‌ډېرۍ له‌اولاد ، دصالحانوۍ.

زوی ئی پیدا شو نوم ئی بازید کښنو د ، په علم ئی کښیناوه تحصیل یې کړاو په‌طاعت او عبادت ئی‌جد و جهدو کړ ، اما پس له‌هغه یې چه‌شه نقد په‌لاس راغی،سمرقندته په‌سوداگری داسونو روان‌شه، دوه‌اسونه‌یی واخستل هندوستان ته‌روان شو، په‌موضع دکالنجر ورغی هورته یې اتفاق دصحبت د ملا سلیمان سره پیښ شه .....الخ

دونه‌څرگنده شوی دی چه دتاریخ مرصع نثر د خو شحال دسبك‌پشان‌دی او په‌دغه‌سلسله‌پوری اړه‌لری ،نسبتاً ساده اوروان دی، اودهغه زمان په‌اثارو کښی لومړی درجه نثر گڼل کښزی

دتاریخ مرصع دری نسخی دلندن په موز یم کښی شته یوه نسخه ئی(۷٦٥) مخه‌ده‌چه په۱۲۷۲ه کښی لیکل‌شوی‌ده، دتاریخ مرصع په‌اووم دفتر کښی‌دپښتنو روحانیونو سوانح هم‌بیان شوی دی. (پښتانه شعرا دوهمه برخه) .

علی‌خان‌خټك : داسړی دخوشحال‌خان د کورنی یومشهور ادیب‌دی چه‌تر(۱۱۵۰ه) وروسته ئی دژوند زمانه تا کلای شو، علی‌خان دمحمدافضل خان‌زوی اودهجری لمسی، دخوشحال خان کړوسی‌دی، ده‌ته لوی‌احمدشاه بابا داکوړی حکومت ور کړی ؤ ، خوده وروسته خپل‌حکومت بایلو داوله اکوړې څخه‌ووځت (خورشید ۲٤٤ مخ )

دی‌پخپل شعر کښی دپرځله پښتور ، تیرا، اواشنغر یادوی‌لکه :

پښتور می همگی پسی پره کا ☆ بیامی نه‌موندبی‌رقیبه ددلبرمخ

دعلی‌خان دژوند اخرنی ورځی نه‌دی معلومی داسی حدس کاوه شی چه دی دخپل حکومت له‌وراښدو څخه وروسته د خپلو رقیبانو دلاسه له وطنه ورك شوی اودحیات وروستی ورځی ئی‌دخپل هیواد په‌پردیسی کښی تیری کړیدی،هغه‌وخت چه دی دخپل وطن په جلاکښدو مجبورپښی نو وائی :

عاشقی‌په‌قام کښی نسی علی خانه
راسه اوس له کورو کلی پسی‌وزه

☆ ☆ ☆

بل‌ځای‌وائی : زه‌یولغړن‌یم خوار خسته جلا وطن یم

☆ ☆ ☆

علی‌خان تر (۱۱۸۰ه) پوری ، لاژوندی وو ځکه چه دی پخپله وائی :

سن د هجر غر ؤ سردکانې تړې کمترؤ

غردابجد له‌مخی (۱۲۰۰) کښی ، خوچه‌ك ۲۰ تری کم‌شی (۱۱۸۰) پاتیږی .

دعلی‌خان آثار اواشعار: دده‌دیوان چه۲۰۰۰ اشعار لری، په (۱۳۵۸ه) له پښتور څخه خپور شو ، د پښتو شاعر ان لکه شمس‌الدین کاکړ دعلی خان هر غزل له یوه دیوان سره برابر بللی‌دی، څرگندپښی چه کلام ئی‌روان ، له نزاکته‌ډك ،اوخورا پوخ‌دی داشعارو نمونه‌ئی داده :

تول‌دی په زار او په‌قربان او په ارمان بولی
جان خو زما جان ئی ، وایه‌ځانه ځان دچایی؟
نور که درله جانه جانه وا ئی لباسی دی
خودبه‌پرې پوهیږی به رښتیا چه‌جان د یاس؟

کاظم خان شیدا : شیدا دخوشحال خان دښونځی یومبتکر شاعردی ، دی دافضل زوی اود خوشحال کړوسی کښږی ، په (۱۱۳۵ه) کال پیداشوی‌او په (۱۱۸۱ه) کښی ددیوان خاوندشو، اوتر (۱۱۹۱)هجری پوری لاژوندی ؤ .

د دیوان محتویات ئی‌دادی : ۱ ـ مقدمه ۲ ـ مثنویات ۳ ـ غزلیات ٤ ـ قصائد ٥ ـ مخمسات ٦ـرباعیات ۷ ـ قطعات ۸ ـ مسدس .

شیدا دعلی‌خان ور ور دناز کخیالی استاذ ، دتخیل پښوا، اودلوی ادبی مقام خاوند دی ده‌خیال په‌دام کښی دهغرا مرغان ونیول ، د چونړو سره همنواشو ، دشنو توتیانو په‌څپر دادب په لوړو،ژورو، والوڅت ، هرغزل ئی‌دعشق دنړی حقیقی‌تابلو ده په تشبیه اواستعاره کښی‌ترخپل نهکه پرمخ تللی‌دی ، دی‌دعشق دډوپې پتنگ اوبی‌سوزه ژوند نه غواړی شیدا دخپلی کورنی دباهمتواشخاصو په‌څپر له‌وطنه جلاشوی او په‌هند کښی‌مړشویدی: دده دکلام نمونه :

را شه کښینه

روغ به‌نشم بې‌وصاله راشه کښینه
شه خبر زماله حاله را شه کښینه
اخر کړی‌دی قرار ، رم سرشتانو
دوحشت په‌خوی غزاله راشه کښینه
په‌مراد ، د عند لیب بې وفا ګله
جلوه گرشوې پس له کاله راشه کښینه
زه آرام‌لکه‌بسمل په پرهار مومم
له تانه غواړم دسماله راشه کښینه
ناز کې دیارد طبعی کړه موزونه
اې شیدا ناز کخیا له راشه کښینه

☆ ☆ ☆

لوهمتی :

سوال می خوی‌له‌درافشانه ابره نه ده
صدف‌ورانه خپله خوله کړه په‌غوښتلو
د آفتاب به کمند نه خپړم آسمان ته
نه‌زدم بارلکه شبنم په‌دوش د ګلو

دونه باید وویلی شی چه دشیدا په روش کښی دپارسی هندی سبك ، بی اخیزې ندی پاته شوی - تر ډیر ادبی الفاظ ئی هم په استعاره سره پښتو شعرته راکښلی دی ...

خوشحال خان شهید: دسعدالله زوی اودافضل خان ختك لمسی دی - دی داحمدشاه بابا په امر دحسن ابدال په جگړه کښی شامل اود مرهټانو له خوا شهیدشو دی هم دخیلی کورنۍ په هېر یو ادیب اودپښتو شاعردی دکلام نمونه ئی داده :

تمام تن می وچ لرگی شو، رگ می تار، وربانده پر ووت
زیر اوبم آواز ترې حیڅری هیڅ حاجت درباب نشته

☆ ☆ ☆

دحافظ رحمت خان کورنۍ: دپښتو په ادب کښی داسی ډیری کورنۍ ټپری شویدی لکه دروښان کورنۍ ، داخوندډروپزه کورنۍ ، دخوشحال خان کورنۍ چه دپښتو شعر او نثرته ئی خورا گټور خدمتونه کړیدی . نودحافظ رحمت خان کورنۍ هم ددوولسمی پیړۍ یوه ادبی اوعلمی کورنۍ ده چه دپښتو دپرمخ تك په لاره کښی ئی خوراډیر زیار کښلی دی لاندی ددوی خدمتو ته یوه لنډه اشاره کول غواړو :

- حافظ رحمت خان : دشاه علم خان زوی په اصل کښی دښیراوك بڼپښی دی ، دی په هند کښی دروهیل گډوالی وۀ ، دی داحمدشاه بابا معاصر اوله هغه سره ئی په هند کښی مرستی کړیدی ، خو په (۱۱۸۸ه) کال په جگړه کښی شهیداو په (بریلۍ) کښی ښخ شو .

حافظ رحمت خان عالم ، متدین ، شاعراومورخ وۀ . وائی چه دیوان ئی درلود، راورتی وانی چه پرامپور کښی یوه مجموعه چاراکړه چه دحافظ رحمت خان اونورو پښتو سردارانو اشعار پکښی لیکل شوی وۀ ، چه اوس هغه کتاب په برتش موزیم کښی خوندی دی، دحافظ رحمت خان یومخمس دعبدالقادر په قلمی دیوان کښی اړدل شوی چه هغه هم دبرتانیی په موزیم کښی پروت دی، حافظ په تاریخ کښی یودتاریخ رحمت خانی ، اوبل ئی .

دخلاصة الانساب په نامه، کتابونه لیکلیدی، چه خلاصة الانساب ئی مادپښتو ژولنی په کتابخانه کښی اړدلیدی ، دادواړه کتابونه په پارسی ژبه دی خو موضوع ئی د پښتنو تاریخی احوالات دی.

نواب محبت خان : دحافظ رحمت خان زوی یوعالم وۀ چه په عربی ، پارسی او د ، اوپښتو کښی اشعار لری وائی چه دی په سنسکریت پوهیده اوپه پارسی کښی دهو لغاتو خاوند دی ، ده به پښتو گرامر اولغت کښی په (۱۲۲۱ه) کال د (ریاض المحبت) په نامه یو مهم اثر لیکلیدی ، چه د (۱۳۲۲) کال په سالنامه کښی ئی (۱۶۹ مخ) ، تفصیل ذکر شوی دی . دراورتی په قول ددې کتاب لو مړۍ برخه ئی دپښتو تصریف او دوهمه ئی د پښتو لغات دی چه معنا وی ئی په پارسی ژبه دی،

محبت خان دحافظ رحمت خان زوی په (۱۲۲۵ه) کال وفات شویدی.

الله یارخان : دحافظ رحمت خان بل زوی دی ، وائی چه ده هم دعجائب اللغات په نامه د پښتو ژبی یوقاموس لیکلی دی ، اولکه دبلو مهارت په فهرست کښې چه راغلی دی داکتاب راورتی پیدا کړی اوتر برتش موزیم پورې رسولیدی، لومړی برخه ئی دپښتو قواعد، اونور دپښتو ، هندی ، پارسی ، اوعربی ژبو دلغاتومجموعه ده ، الله یارخان په (۱۲٤۸ه) کال وفات شویدی.

نواب مستجاب خان: دحافظ رحمت خان بل زوی دی، دی دخیل پلار په هېر په پارسی ، عربی اوپښتو کښی لیکوال اومورخ وۀ ، دې سړی « دگلستان رحمت » په نامه یو تاریخی کتاب لیکلی دی چه دخپل پلار اودهند دپښتنو دژوند حالات اوحوادث ئی پکښی لیکلی اود پښتو شاعرهم دی .

سعادت یارخان : د حافظ رحمت لمسی دی ، د محمدیار زوی اودپښتو لیکوال او مورخ دی ، ده د ( ۱۲٤۸ ه ) کال په حدودو کښی د (گل رحمت) په نامه یوتاریخ لیکلی چه دبړیځو اونورو هندی پښتنو حالات ئی پکښی بیان کړیدی ، خودا اثر په پارسی ژبه دی . ( دپښتو دادب تاریخ )

نیاز احمدهوش : دحافظ رحمت خان کړوسی هم یومؤرخ اولیکوال دی ، نومورې د ( ۱۲۵۰ ه ) کال په حدودو کښی ژوندی وۀ ، دی ډیر تالیفات لری ، ده دپښتو په تاریخ کښی د (روهیل گنډ) تاریخ هم بیان کړی دی - مخ گنډپښی چه دمحبت خان ، ریاض المحبت، اوالله یارخان (عجائب اللغات) دپښتو ژبی له قیمتی اثارو څخه گڼل کېږی ، اودپښتو ژبی لومړنی قاموسو نه دی .

ددې دورې نور شاعران :

امیرمحمد انصاری : داسړی د ( ۱۳۰۰ ه ) په حدودو کښی په کلکته کښی اوسیدی ، د میرمحمدزوی دی ده دسعدی گلستان په ۱۲۲۷ ه کال په پښتو نثر ترجمه کړیدی او دنثر نمونه ئی داده : «همه واړه ثنااوصفت ، کل احسان وٴمنت هغه لوی قادر څښتن تعالی لره دی چه طاعت ئی سبب دقربت دی ، اوده په شکر کښی زیاتی د نعمت هره یوه ساچه په بنکته درومی ، اوز دونې دحیات ده ، اوهرکله چه په پورته راشی خوشحالو ونی ذات یعنی دلحان ده پس په هره یوه ساکښی دوه نعمتونه موجود دی ، اوپه هرنعمت ئی شکر واجب » .

دانرجمه دپښتو دنثر غوره اثردی اومترجم ئی دپښتو ترجمه کوونکو اونثر لیکونکو کښی درجه لری داترجمه په (۱۲۹) مخونو کی دلندن موزیم ته وړل شوی اوهورې شته ، دمولف نور احوال نه دی رامعلوم .

عبدالکریم کاکړ: دی یوعالم اودعربی، پښتوژبی پەدقائقوخبروو عین‌العلم‌ئی لـه عربی څخه د«زین‌العلم» په‌نامه په پښتو نظـم رااړولیدی ،نوموړی په(۱۲۳۵ه) کال‌وفات شو .

د کلام‌نمونه‌ئی داده :

دښه خوی ګټـه ده ډېره  له ګټـلو ترا نـد تېـره
هغه څوك چه اخـلاقی وی  دهغه نوم بـه بـاقـی وی
داسـلام خوښه اخـلاق دی  چه‌په در ست ادیـانوطاق‌دی
په خویو انسـان انسان‌دی  کـنه دی خو تش حیوان دی

☆ ☆ ☆

محمودرفیق: پەعربی او هندی ژبو پوه اودپښتو شاعر دی ده‌په (۱۱۸۵ه)کال دعلم‌تجوید په‌بیان کښی یو کـتاب په لنډه مثنوی لەهندی‌ژبی‌څخه په‌پښتو نظم را اړولیدی

د کلام نمونه ئی :

که‌ته‌نه وای ای احمده هیڅ به‌نه ؤیی احده
نه آدم نه به حوا وه نه پیدا به دا دنیـا وه

☆ ☆ ☆

دا لپوری حافظ :الپوری دسوات دکانیا غوربند یوکلی‌دی حافظ پەستر گو ړوند خودپښتو ژبی پوخ شاعردی ،د(۱۲۰۰ه) په حدودو کښی ژوندی اود شاه زمان مـعاصر دی، دی ددیوان خاوندو چه‌په‌پښور کښی‌چاپ‌شویدی، اشعارئی‌عشقی، تصوفی‌دی دبیان طرزئی درحمان‌بابا الهامی اشعاروته ورته‌دی،امادالفاظو په‌لحاظ ګوښی سبك‌لری د کلام نمونه‌ئی داده :

برګـ میوه می‌توی‌شوه دپیری‌ـ خزان لغړ کړم
تېرلـکه بر ښینا شوې دځوانـیـ اردی بهشته
سود، سوداهـغه کـا چه بـازار لـه بهـا یوسی
ته‌چه د ست خالی‌ئی په بازار کښی وړ یـانشته

☆ ☆ ☆

خوی دچارپا یانو کـړی جو سه دی دسړ وده
شین ډکی چه و ینی لـه ګـړنـګه پسی رغړی

☆ ☆ ☆

زه نـائب یـم د مجنو ن په عـاشقـیـ کـښی
خلـیفه دقـا رون نـه یـم چه مـال غـوارم

☆ ☆ ☆

قاسم علی افریدی: دی‌اپریدی آدم‌خیل‌دی، کورنی‌ئی‌هند ته‌تللی‌اودی پەفرخ‌آباد کښی‌زوکړی دده‌دیوان چه‌په (۱۲۳۱ه) کـښی تمام‌شوی‌تر پنځو زرو بیتو پورې رسېـږی ، اشعارئی تصوفی،عشقی اخلاقی‌دی ، کلامئی متین‌دی، راورتی لیـکی‌چه قاسم‌علی پەعربی ، ترکی ، پارسی، کشمیری‌اوهندی‌ژبو باندی پوهیده اوخه‌انګریزی‌هم ورته، انګریزان دده پەژوند هندته راغلل ،نودی وائی :

نصا را په هنـدو ستان حکو مت کـانـدی
چېرتـه ولاړ هغه ځوا نان شمشیـر ننـګی

دی‌کلیات هم‌لری ۱- تزك‌افریدی پارسی ۲ پښتو دیوان ۳ - اردودیوان ٤- قصیدی‌په‌پارسی‌اوپښتو ٥- فرهنك‌افریدی چه‌دپارسی مصادرو په مقابل کښی‌یې‌دپښتو.اردو، کـشمیـری اوانګریزی مرادفات لیکلیدی .

د کلام‌نمونه‌ئی :

اوس پەهند چه خدای نازل کړ فرنـګی
دا فـرقـه دنـصا را ؤ ده جنـګـی
نصارا په هندوستان حکو مت کـاندی
چېرته لاړ هغه ځوا نان شمشیر جنګی؟
بقا لان وه سپاهی په هنـد وستـان شول
در وېزه کـاندی اشراف چونګی‌چونګی
حیف درحیف‌دی چەحرمت داشراف نشته
په ا سـلام هسی را غـلـیـده تنـګی
«احمد شاه درانی» نشته دی یـا را نو
چه پر سر کـا ندی افسر حبش زنـګی
«شاه عالم»دقنـاعت پەحجره کـښېناست
ګـنه نشته نور اولاد تیـمو ر لنـګـی

ملافرح الدین قندهاری : ځان قریش بولی، په (۱۲٤۱ه) کال وفات شوید ی ، دی خورا زاهد عالم اوپرهېزګار سړی اودمیافقیرالله صاحب‌مرید ؤ، ډېر مریدان اوشاګـردان ئی‌لرل دی‌په‌پښتو لنډ بحر یومذ هبی کـتاب لری چه‌نمونه‌ئی‌داده :

شفقت پرمسلمان کړه  لەهرچاسره‌احسان کړه
پەښادی‌دده ښادمن شه  هم پەغم دده غمجن‌شه

خواجه رزق‌الله:داسړی خورانبی ځلوریځی (چهاربیتی)لری دچېرهار د(کلاشیخ) دی خواجه یوګرزند سړی‌ؤ، هند، بخارا قندهارته تللی‌دی ، دیوان‌هم لری اشعارئی ملی اماپاخه‌دی دده‌د کلام‌نمونه :

دبلاغشی می خیژی له‌پښتو  زه‌خواجه رزق‌الله‌نه‌پرېږدم‌پښتو
چه‌خبرشم‌له‌حملی‌د کوم‌غلیمه  دغیرت خولی‌می خاشی‌له وپښتو

عبدالعظیم رانیزی: دسوات‌دی پە (۱۱٦۷ه‌کال) زوکړی اوتر(۱۲۵۳ه)پوری ژوندی ؤ دپښتو ر پە (بـرناکار) کـښی اوسېدی، دده یووړو کی دیوان شته اودشعر موضوع ګانی‌ئی عشقی،تصوفی،پند، ورمونه‌دی ، دی‌دخپلودووزلمو زامنوپەمړینه خورا متأثرشوی اومرثیئی ویلی دی ، اشعارئی پاخه‌اولەسوزه ډك‌دی، مروج‌علومئی لوستی ؤ دده د کلام نمونه وګورئ :

که‌ته پرئی تابەوړ کاکـه څەور کړی
ملایان کوی پە چر ګـ پە حاواصلح

هرسړی کړی رعایت دزور و رو
باری نکړی دعا جزو رعایت څوك
دا وروندی‌چه په مخ زما بهیږی
دا زما دسیینو او ښو سلسله ده

امام‌الدین : په(۱۲۰۰ه) کښی ژوندی ؤ ده‌د(جمجمه) په نامه یوه‌خیالی قصه‌دپښتودمثنوی په‌لنډ بحر نظم کړیده .

ملاحسن اسحق زی : دقندهار د(تلوکانو) دی‌ښه‌جوشی شاعردی، وروسته ترتحصیل دعشق په سیند کښی لا هو شو اشعارئی خورا سوزناك‌دی ، دحمیددښونځی پیروی کوی،دښپړ دیوان خاونددی ، نورآثار هم‌لری، په (۱۲٤۵ه ) کال وفات شویدی، دده داشعارو نمونه یوه رباعی:

یاره چه ته ئی په هغه لوری غم‌خودی نه‌وی ښادی‌دی‌اوری
دمخ‌برښنادی یولحل‌ښکاره‌که چه‌ښه جمال‌دی‌خواران‌وگوری

بل‌لخای‌وائی :

دروغو زړونو ژړا محال ده په‌ژاړژاړی ویشتلی زړونه

صالح‌محمدداوی: دقندهار یو عالم اومتقی سړی د ی چه د(پوتی) دمیانور محمد مریدؤ یو د یوان ئی دراوړ چه ټول حمد و نعمتؤ

کودیزی: دپښتوشاعر اودتیمورشاه معاصر ؤ ، ده د«جلات اومحبوبا» قصه‌په(۱۱۸۸ه) دپښتو په لنډه دوه ایڅه‌نظم کړی‌ده دلوی احمدشاه په مرګ‌ئی دابیت‌ویلی دی :

دور تهر دشاه دران شو درست پښتون ئی‌په‌ارمان‌شو

ملا ولی داد کاکړ : یوعالم اوشاعرؤ چه په قندهار کښی اوسیده ده هم‌په ۱۲۲٤ه کښی دزین الحلم کتاب چه‌دعربی کتاب (عین‌العلم) ترجمه ده دپښتو په‌لنډ مثنوی نظم کړیدی مضامین‌ئی‌دینی او اخلاقی وی .

شیخ‌احد: دلغمان دزیارت په کلی کښی اوسیده ده دقرآن کریم تفسیر په پښتو نظم کړی دی خواوس نه پیدا کیږی دتیمورشاه په‌زمانه کښی وفات شوی‌دی ، اشعار ئی هم خوازه دی ،دیوې بدلی شوبیته‌ئی دادی :

کمیس‌یی شین‌اغوستی شنه‌لکه کوتره‌گرزی
په‌شنه جلګه راغله له یارسره اوتره گرزی
له‌خندا ډکه‌خوله دابشکلی ناز پروره‌گرزی
یوئی شین خال دی نند اری ئی دجبین کړمه

☆ ☆ ☆

زه شین توتی یم دتیرا په‌شنو کمرو گرزم
په شنو ښو سبا دحسن د لا ور و گر زم
کله چمن کښی هسك په دې نشترو گرزم
شینکی ټوکیږی سیل بیا دشنه اوبین کړمه

رحمت‌داوی : له‌قندهار کشمیر ته تللی دشاه‌زمان‌معاصردی رحمت دپښتو ژبی پوخ شاعردی دلیلی‌مجنون‌قصه‌ئی نظم کړی داکتاب‌ئی دشاه‌زمان دربارښئی اودعبدالله خان مخلص الدوله دادب پروری هینداره‌هم‌ده په کشمیر کښی مصور شوی‌او(٤۵) مصوری منظری‌لری، اثرئی له‌ما سره موجود ؤ چه‌پښتنوټولنی ته‌می ورکړ تر۱۲۱۰پوری‌ژوندی‌ؤ کتاب ئی دنظامی دلیلی مجنون په‌شان دپښتو په‌لنډبحر نظم‌شوی څوبیته ئی‌دادی :

غمو ملك رابانديې‌تنګ کړ زړه می‌لحکه دا آهنګ کړ
چه پښتو لیلی مجنون کړم ښائی غم له زړه بیرون کړم
سلطنت دشاه ز مان دی دی خاقان ابن خاقان دی
پلار نیکه ئی پاچهان وو نوم ئی تاج دهر افغان وو
شکر شکر شاه زمان غنیمت دی دا زمان

میانعیم متی‌زی : په‌کام‌خلیل مهمنددی په نهم پشت شیخ‌متی ته رسیږی ، نیکونه ئی ټول عالمان او شاعران تیرشوی ، په پښور کښی‌زو کړی،خپل دیوان‌ئی په(۱۲۳۰ه) تمام‌کړیدی، بیرته قندهار ته‌راغلی او‌اولاده ئی‌تراوسه په قندهار کښی‌شته، تصوفی اشعارلری درحمان دښونځی پیرودی دابیتونه‌ئی دکلام نمونه ده :

زه‌مین ستا په دیدار نه‌یم نوشه یم
دوصال دی طلب گار نه‌یم‌نوشه یم
ستادسرولبوله‌خیاله‌داغ‌په زړه کښی
رنګ په‌وینو لاله‌زار نه‌یم‌نوشه یم

☆ ☆ ☆

په‌ژړامی هیڅ پروا د ښکلیو نشی
په‌باران‌دباغ ګلونه‌شی سمسورلا

عبدالنبی بهتنی: د۱۲پیړۍ په‌لومړی سر کښی‌ئی ژوندکاؤ، دقندهار دذاکردی،نیك‌سړیؤ دیوان لری اشعار ئی‌درحمان‌بابا په‌سبك‌سم‌دی ، په‌شعر کښی‌یې‌عرفانی‌اصطلاحات‌موجود، دی‌دده دنلام نمونه :

چه‌می خپله هستی‌ورکه کړه په‌عشق کښی
دعشق بوی می‌نما یان له پوست وهډه
راشه وکړه دناسوب له سرایه کډه
ښایسته شهاو گورهرډه بډه

☆ ☆ ☆

ملا زبردست کاکړ :عالم اومتقی سړیؤچه‌دقندهار په‌اطرافو کښی اوسیدی ، ده‌د ( روضة‌النعیم ) کتاب په۱۲۲٦ ه کال‌په پښتو نظم کړی،چه‌مضامین ئی دینی اومذهبی‌دی ددی کتاب دمثنوی شعر نمونه‌ؤ :

څوك چه‌ظلم په چا نكړي  كله ظلم څوك پرده كړي
چه‌بد نه كړي بدنه مومي  نيكان كله بدي مومي

گل محمد نورزی : دهلمند د(مالگير) په كلي كښې اوسېده دشاه زمان تروخته ژوندیؤ، اشعارئی عشقی‌دی‌درحمان پیرودی دائی دكلام نمونه‌ده :

مسافر راغلم سبا به‌خمه  سير دگلانودبهار كړمه
طبعه‌مې‌خداى كړه‌دبلبلانو  تل‌په‌سرو گلوناري‌وهمه

معين‌الدين : داسړی د(۱۲۵٦ه) د شاوخوا شاعر اودپښتور په (چارسده) كښې اوسېدی ، ده دوامق او عذرا قصه له پارسو څخه پښتو كړی‌دا كتاب (۹۳) مخه‌لری،وائی چه‌يوه‌نسخه ئی دلندن په موزيم كښې شته دكتاب شروع ئی :

دا آغاز می‌په نامه‌دپاك خالق‌دی

چه‌په عشق‌ئی دعذراسوی‌وامق دی

✲ ✲ ✲

وائی چه‌معين‌الدين يودیوان هم‌درلودچه‌حبيب گل‌ئی ديوان (۵۰) مخه پخيل بياض كښې انتخاب كړی‌دی .

عبدالرسول : دقند هار په (ماشور ) كښې زو كړی په‌كام خورزی اود تيمور شاه معاصردی، دی كشمير ته تللی او يوه سفرنامه‌ئی ليكلی‌ده، (آزادنامه) ئی‌يوبل اثردی چه‌دآزاد خان دكشمير ديباغی والی‌جگړی‌ئی‌له‌تيمورشاه سره پكښې‌ستايليدی، ديوان يی په‌قندهار كښې له(عبدالشكور رشاد)سره موجود، دی دده دكلام نمونه‌په دوهم جلد پښتانه شعرا كښې‌راغلی‌ده :

مطيع‌الله پيرخيل : دا باسيند پدې‌غاړه‌اوسيدی‌دشاه‌شجاع‌معاصر دی، دی‌دعشق په‌اورسوی اودردناك‌اشعارئی و يليدی ،درحمان دښونخی پيرودی ، ديوان‌ئی په‌پښتو ژوله كښې موجود، دی ، ديوان‌ئی دموضوعاتو له كبله هرډول اشعارلری ، دكاراوعمل په باره كښې وائی :

په‌قصومطلب مونده نشی پسی پاځه
له گفتاره چاكر دار موندلی نه‌دی

دده د عشقی غزلو څخه څو بيته :

هينه دلحوانانو نام و ننگ لری كوی
تش‌ديدن دښكليو دزړه زنگ‌لری كوی

✲ ✲ ✲

ما په‌خوب كښې لحان بيگا ملنگ ليدلی دی
دزړه رخت‌می په‌عشق كښې هسی رنگ‌ليدلی‌دی

اوس زه له‌ډيری وبری په كوځه ور تللی نشم
ما د مستو ستر گو جنگ ليد لی دی

✲ ✲ ✲

شمس‌الدين كاكړ : د قندهار په كلچاآباد كښې زوكړی ، ددردمن زړه خاوند اوډيره‌موده‌ئی په‌هند كښې بر سات گاللی اودوطن په‌فراق كښې‌يې‌سوی اشعارويليدی - ده‌خپل ديوان په (۱۲۳۸ه) كال‌تمام كړی او اشعارئی عشقی ، تصوفی اومصنوعی برخې‌هم‌لری - شمس‌الدين يو دفقهی كتاب چه(سراج الموتی ) نومېزی هم‌ليكليدی چه‌دپښتو په‌نيم منظوم نثر كښل شوی دی دكلام نمونه ئی‌دغه څلوريځه ده :

دخدای دپاره زما حبيبه  د رنځورانو د رنځ طبيبه
زيات‌می‌ترحده‌دهجر رنځ‌شو  لږ خبر واخله له ما غريبه

گل‌محمدكاكړ : يواخلاقی اومتصوف‌سړی اود قندهار دی ده‌د(شمس‌العابدين) په‌نامه يو كتاب‌ليكلی ، لحينی‌بدلی‌هم‌لری ، دايو بيت دده دكلام نمو نه ده :

كه شيدا نه‌يم دلبره راته وايه  داداو‌ښو دريابونه دی پرځه؟

✲ ✲ ✲

ملاجمعه بارکزی : دقند هار د(زوړ ماشور) په كلی كښې اوسيده ،متدين شخص‌ؤ، ددیوان خاونددی ، اشعار ئی صوفيانه دی، درحمان بابا دښونخی پيرودی ،ميرزاحنان‌ئی د شعراستاد بولی ،دی په۱۲۵۹ه كال حج ته‌ولاړ اوپه مكه‌مكرمه كښې‌مړ اوهوری ښخ‌شويدی ، دابيتونه ئی‌دكلام نمونه ده :

كه دی وا غوښې‌ر د گلو كړی نسيم ئی
پرې نا ری دی د بلبلو كړی نسيم ئی
كه د پوری د زړه و ينی د مينو
د خوبانو په منگلو كړی نسيم ئی

عزيزخان جلندرخيل اندړ : د سدوزو داخری دوری شاعر اودلالا بابا په‌كلی كښې اوسيدی خوراپوخ شاعرؤ، خوديوان‌ئی نه‌دی‌جمع‌شوی اشعارئی په‌ټول‌رعناخيل كښې‌تيت‌دی دی دهرات دجگړو په‌باره كښې دكامران او وزيريارمحمد خان په افتخار داسی احساسات څرگندوی :

څنډی دی بيا اسما نه سرې د ی
پاس په هرات د و يرنا ری دی
يا ر محمد بزغ گړ په لښكر باندې
ميدان ئی او ر كړ پر غجر با ندی
كامران وی راشه يار محمده وروره
ته‌ئی په لحان زمونږ له خپله كوره
مو ږ ته يافتحه يا كفن بو يه
نن ورځ ساتنه د وطن بو يه

✲ ✲ ✲

سپينه : دكامران په زمانه كښې دهرات په شاو خواكښې اوسيدله دا دنور محمد الكوزی لوز او د پښتو شاعره وه ، په

(۱۲۵۵ه) کال چه غجرو هرات محاصره او پښتنو هرات په سپینه توره وساتو دی پښتنی میرمنی، دهرات واقعات او د پښتنو میړانه په پښتنو نظم لیکلیده چه څو بیته ئی دادی :

د پښتنو تو ر ی به تل ځلېد ی
ددښمن سترګی له بر پښناوی رنړی
دوی وو مېړونه پښتانه ننګیا لی
په ننګه ټینګ ؤو دوطن تور یالی
د هر ات خوا شوه له غلیمه خالی
دلته خیره شوه هوسائی خوشحالی

ددې دوری هغه شاعران چه اثارئی موږ ته ندی رارسیدلی او ددوی معاصرینو پخپلو اشعار کښی ستایلیدی :

کریم خان : قاسم علی داسی یادوی :

که نواب محبت خان که کریم خان ؤ ، نور معلو مات ئی نشته.

میرعلی : هم قاسم علی داسی معرفی کړیدی :

« میرعلی ،عبدالقادر ، که سکندر ؤ ».

مشرف : علی خان دا سی معرفی کړیدی :

فضل دغفور په علیخان د شعر و شو
گرچه شرف پر دمشرف ؤ په تقریر کښی

باقر شاه : د مطیع الله له خطی دیوانه څخه پېژندل کېږی چه شاعرؤ ،څکه هلته دیوه غزل له پاسه لیکل شوی دی چه دا (دبا قرشاه د غزل عکس دی )

انور اوقمر هم : مطیع الله شاعران ښو دلیدی .

د انور د قمر شعر به با طل که
مطیع الله شکل رابع شوله نتاجه

عظیم : عبد العظیم را ښئی :

یوعظیم دی په وطن داشنغر کښی ☆ په نامه کښی دی شریك له ما گدایه

فیض محمد : دعبدالقادر ددیوان په یوه نسخه کښی دفیض محمد یوغزل انتخاب شویدی ، فقیرافضل هم په لو مړی نسخه کښی دپښتو شاعر ښودل شویدی .

نواب علی محمدخان : چه دحافظ رحمت خان ادبی ملګری دی یوغزل ئی دعبد القادر په قلمی دیو ان کښی انتخاب شویدی او نواب په (۱۱۶۲ه) کال وفات شویدی .

مسکین : ددې شاعر یوغزل هم دعبدالقادر په نومورې قلمی دیوان کښی اقتباس شو یدی .

ددې دوری تا ریخی کتابونه :

محمودنامه : دا کتاب ریدی خان مهمند دشاه حسین په زمانه کښی په پښتو قوی نظم جوړ کړیدی اود حاجی میرویس او شاه محمود هوتك د مجاهد اتو بیان کوی او د پښتنو میړانه دازادی په جګړو کښی ستائی .

پټه خزانه : دا کتاب محمد هوتك دشاه حسین په دوره کښی په پښتو عالی نثر لیکلیدی اودپښتو دشاعرانو دژوندانه او اشعارو په بیان محتوی دی .

دمحمد رسول هوتك بیاض : دا کتاب دمحمدهوتك لاس ته ورغلیؤ اودپټی خزانی په لیکلو کښی یې خوراړه استفاده تری کړ یده .

دپښتنو نسب نامه : دا اثر داحمد شاه بابا په زمانه کښی میا عمر څمکنی په پښتو نظم کښلی دی .

تا ریخ مرصع : ددې دو رې یو ادبی شا هکا ر دی چه افضل خان خټك دپښتو په ښه نثر لیکلی دی اودپښتنو یو مستند تار یخ دی .

تذکرة الملوك : دا کتاب دسدوزو په دوره کښی لیکل شوی اودسدو زو تاریخ دی راورتی ته په لاس ورغلیؤ ، اته جلدونه لری او دمخونو شمیرئی ٦٤٧ مخه دی ،دتالیف زمانه ئی غالباً دتیمور شاه دوره ده ، ددې برخی معلومات لری چه ور وسته تراحمدشاه حوادث بیانوی ، مګر نسخی ئی نه پیدا کیږی .

صولت افغانی : دا کتاب زردادخان په (۱۱۸۷ه) کال کی دتاریخ په موضوع په پښتو لیکلی دی ، ددې دورې نور تاریخی کتا بونه هغه دحافظ رحمت خان د کو رنیو ا ثار دی چه له خلاصة الانصاب د حافظ رحمت خان او گلستان رحمت د مستجاب خان ، گل رحمت دسعادت یارخان او نورو څخه عبارت دی .

تواریخ حافظ رحمت خان : دا کتاب پیر معظم شاه دحافظ رحمت خان د هدایت لاندی لیکلی دی نو موږی اثر د پښتنو دمهاجر تونو جګړو او نورو پېښو بیان کوی ، پیرمعظم شاه دپیر محمد فاضل زوی دی چه دپښور دپیرسیاك دکلی مشر او دحافظ رحمت خان دملګری ؤ (بلو مهارت فهرست ) .

ددې دوری پښتانه پاچاهان :

دهوتکو کورنیو : لکه چه موږ ولیکل دپښتو دادب پدی څلورمه دوره کښی هم خورا معروف او ادب پالونکی پاچهان تېرشویدی چه دپښتو له شعر او ژبی سره ئی مینه درلوده اوددوی په پام لرنه دپښتو ادب ښه پرمخ تللی دی ، یعنی دوؤلسمی هجری پیړۍ په سر کښی دهوتکو کور نیو سلطنت در لود، دازمان دافغانستان په لوېدیځ کښی صفویانو او په ختیځ یعنی هند کښی دبابر اولادی پاچاهی کو له ، پدې فترت کښی ایرا نیا نو دافغا نستان لحینو غربی برخوته لاس را غزولی او قندهار ئی

نیولی ؤ ،گرگین گر جی دایران لهخوا د قندهار والی شو ، داسړی خورا ظالم ؤ چهلهپښتنو سرهئیددښمنیږ رویه پا الله ، نو پښتنو د حاجی میر ویس په مشر تابه دصفو یانو په خلاف دخپلواکیږ بیرغ ؤچت کړ او گرگین ئی له۲۵ زرو لښکرو سره وواژه ، نو وروسته ترهغی واقعی پښتنو حاجی میر و یس پخپله مشریږ ومانه اوپه (۱۱۲۱ه) کال‌حاجی‌میرویس‌خان‌خپل ملی حکو مت جوړ کړ ، خوچه دو همه پلا د رستم ایرانی په سپه‌سالاریږ د اصفهان لښکر بیا راغی او په قندهار ئی حمله وکوله ،حاجی‌میرویس‌خان هغهډېر فوزهم پوښا وواژه - خو په ( ۱۱۲۷ ه ) کال حاجی میرویس‌مړاودهغه‌ورورمیرعبداله‌ئی په ځای پادشاه شو ،مگر هرکله چه‌میر عبداله‌د نارنج له قصره راولویدا و وفات‌شو ، دحاجی میرویس مشر زوی شاه محمود پاچاشو نو محمود ،دانتقام په غرض پرایران لښکر کشی‌وکړه او اصفهان ئی‌ونیو او صفویان ئی وایستل - د محمود له مرگه وروسته دهغه دکاکا زوی شاه اشرف په (۱۱۳۸ه) کال دایران امپراتور شو اوتر(۱۱۴۲ه)کال‌پورئی‌هوری‌سلطنت وکړ .

پدی‌موده کښی شاحسین دشاه محمود ورور دقندهار پاچاؤ شاه‌حسین‌له(۱۱۳۵ تر ۱۱۵۰ه) کال‌پوری‌سلطنت وچلاؤ، او تر ډېرهځایه پوری افغانی اوپښتونستانی ایالتونه پهلاس کښی ؤ ، خوپه (۱۱۵۱ه) کال‌چه نادر افشار د پښتنو له ځان ځانی څخه استفاده وکړه اوقندهارئی وروسته تر یوه کال محاصریږونیو ، شاه‌حسین ئی مازندران ته‌جلا وطن کړ ، اوهلته مړشو ...

دپښتوروزنه :دهوتکوپه‌دوره کښی دپښتوروزنه‌پهښه ډول‌شویده، دوی‌ډېر پښتانه ادیبان او شاعران سره‌راغوندکړی‌او وئی‌بالل پښتانه شاعران هم د هوتکو له پاچا هانو سره په جگړو کښی ملگری ؤ ، ددې کورنیږ زیاتره سپه سالاران هم د پښتو ژبی شاعران‌وو ، دهوتکوکورنیږ ترټولو پخوانی پښتنو پاچاهانو دملی‌روح دوښولو ،ازادیږ، علم‌ادب‌اودپښتو ژبی دپرمخ بیولو لپاره ډېر خدمت کړی‌دی - حاجی میرویس دپښتو مینؤ درحمان بابا اشعاروته ئی عقیده درلوده اوپه‌سختو ورځو کښی به‌ئی رجوع ورته کوله ، ددې کورنیږ ښځی هم لکه میرمن نازو اوبی‌بی زینبه دپښتو شاعرانی وی - سیدال خان ناصر او بهادر خان اند ړ د محمود او شاه حسین سپه سالاران سر بېره پر عسکریت لرلو شا عران او شاعر پروران هم‌وو ، پیر محمد ، بابوجان بابی-داودخان اونورفاضلان‌دحاجی‌میرویس‌خان‌دربار عالمان اودپښتو ادیبان وو .

اوحاجی‌میرویس به‌مهربانی‌اوامانځنه ورسره کوله دشاه محمود له‌خواهم دپښتو شاعران روزل‌کیده اوریدی‌خان مهمند پهایران کښی ورسره ملگریؤ، اوده کارنامو یوه زوروره شهنا مه ئی دشاه‌محمود په‌نامه هوري جوړه کړی‌ده خو د هوتکو دکورنیږ خورا پښتوپالونکی پاچاه شاه حسین‌دی چه‌دده په دربار کښی دپښتوژبی دفاضلانویوه ستره ټولنه‌موجوده وه ، چه‌همیشه به‌ئی دشاه په‌حضور ادبی بحثونه سره‌کول اوکتابونه به‌ئی په‌پښتو لیکل ،پخپله شاه‌حسین‌هم دپښتوشاعر اودیوان‌ئی لاره د حسین هغه‌جوائز چه‌پښتنو شاعرانوته‌به‌ئی ورکول ؛سړی ته د غزنوی محمود دوره ور یادوی خو په دونه فرق‌سره چه‌محمود غزنوی دپارسو پشاعرانو زروپښل‌مگرهوتک‌شاه‌حسین‌دپښتو شاعرانوته درانه انعامونه‌ورکول ،شاه‌حسین، محمد هوتک مامور کړ چه دپښتنو شاعرانو تذکره جوړه کړی او(پته خزانه ) ددې پاچا دادب غوښتنی نتیجه‌ده چه محمد هوتک لیکلیده دشاه حسین ددربار مشهور پښتانه شاعران اوعالمان دا دی :

ملایارمحمد، ملامحمد یونس، ملا زعفران، محمد هوتک سپه‌سالار بهادرخان اونصرالدین‌اندیږ ریدی خان مهمنداونور .

شاه حسین پښورته کاتبان واپښل چه درحمان بابا دیوان اودژوند حالات ټول کړی اوقندهارته ئی راوړی ، داکارهم انجام‌شو، پدې‌دلائلوسره داکورنیږ سره له‌هغو سیاسی اوحربی مصروفیتو چه‌لرلئی دپښتو دادب په احیاکښی ډېر حق لری اوخدمت‌ئی‌دی ژبی‌ته‌دقدر وړ دی .

دسدوزو کورنیږ: هغه زمان چه نادر شاه افشار ووژل شو نواحمدخان ابدالی (اعلیحضرت احمدشاه بابا) په قند هار کښی یوملی‌حکومت جوړ کړ، اوبیائی‌دپښتنو او خپل کفایت په‌وسیله دافغانستان ستره امپراطوریږ تشکیل اوتامین کړه، احمدشاه بابا دغوریانو پښتنو ټهر عظمت بېرته تازه کړ ، ده د مسلسلو حرکاتوپه‌ذریعه هندبخارا، دایران‌ستره برخه دافغانستان په‌ستره ټولو اکمنیږ کښی داخله کړه احمدشاه‌بابا د(زمان‌خان) زوی مورئی (زرغونه)انباده ،دی‌په‌کام بامی‌زی سدوزی‌دی اوسدوزی ددرانو یوه‌پښه‌ده ، دده دکورنیږ سلطنت له(۱۱۶۱ تر۱۲۵۸ه) کلو پوری تقریبا یوقرن و چلېده ، اعلیحضرت احمد شاه دافغانستان دسترو تاریخی پاچاهانو له ډلی څخه ګڼل کېږی، ده (۸)واری په‌هندیرغل‌ورؤوړ ، اودافغانستان‌حدودئی له‌پارسه تر بخارااوپېلی‌پوری ورسول،دده له‌مرګه ورسته‌شهزاده‌سلیمان تیمور شاه بالنوبه پر تخت کښېنا ستل ، تیمور شاه وروسته تر(۲۱) کلوسترټولواکیږ په(۱۲۰۷ه) کښی وفات اوشاه‌زمان ئی پرځای کښېناست، خوله شاه زمان سره زیاتره ورونه ئی مخالف‌وو په‌ټهره بیاشاه‌محمود چه‌دهرات والیؤ ،له‌شاه زمان سره‌ئی سختی‌جگړی وکړی اوپه‌پای کښی‌ئی‌شاه‌زمان مغلوب کی اوکابل‌ئی یه(۱۲۱۶ه) کال ونیو ، خودشاه محمود په خلاف شاه‌شجاع دشاه‌زمان سکه ورور دپېښور والی را پاڅېده او په مسلسلو جگړوسره اخته‌شول، دا اړو دور تقریبا (۴۰) کاله

جاری؛ چه کله محمود اوکله به شاه شجاع پایتخت نیوی اوپادشاه کیدی به ،خوپه پای کښی شاه شجاع انگریز دلښکرو په امداد په(۱۲۵۵ه)کال، کابل ته راغی او څه لږه موده پاچاشو بیا دملت دمجاهدینو په توره په (۱۲۵۷ه) کال هیواد، د انگریز انوځخه پاک شو اودکابل سلطنت لومړی ځل دمحمد زو کورنیو ته منتقل اواعلیحضرت امیردوست محمدخان دافغانستان پاچاشو ..

دپښتو ادب : دسدو زو کورنیو مخصو صا احمد شاه بابا اوتیمورشاه له پښتوسره مینه درلوده اودمصروفیتو په منځ کښی به ئی هم دپښتوادب ته توجه فرمایله ،احمد شاه بابا او تیمورشاه پخپله دپښتو شاعران وو ، چه دیوانونه ئی سازکړی دی پیرمحمد کاکړ داحمدشاه بابا دربار له ستروپښتنو عالمانو او شاعرانو څخه و ، پیرمحمد په دغه مهال کښی دپښتو دتعمیم لپاره د (معرفت الافغان) په نامه یو گرامر ولیکه ، دایو لومړنی گرامر دی چه پدې دوره کښی لیکل شویدی ددې کورنیو دپام لرنی په اسره دپروخلقو دپښتوادب ته توجه وکړه اوپه پښتو ئی کتابونه ولیکل مطیع الله دشاه زمان په دوره کښی اورحمت داوی ، میا نعیم گل محمد، عبدالرسول هم په دغه زمانه کښی اشعار ویلیدی میرمن سیینه اوعزیزخان ، سیف الله جلندرخیل اندرهم د شاه کامران په وخت کښی چه دهرات والی؛ دپښتواشعار ویل اودپاد شاهانو مدحی اودجگړو فتحی به ئی په نظمونو سره چوړولی ، مگر هرکله چه احمد شاه بابا دخپل (۲۵) کلن اوتیمور شاه د خپل (۲۱)کلن سلطنت په موده کښی تماما دافغانستان دنوی امپراطوری په انتظام اخته وو نوحوادثو دډیری پالنی او توجه وخت دپښتو دادب روزلو لپاره ودوی ته نه دی ورکړی چه د پښتو دتعمیم په باره کښی ډیره پام لرنه څرگنده کړی خو په دې دوره کښی دخوشحال خان خټک داولا دې او حافظ رحمت خان برېښی دکورنیو خدمتونه دپښتوادب ته راجع د ستاینې وړ دی ، پدې دوره کښی دخوشحال خان دکورنیو خدمتونه دپښتو شاعری اوادب ته دپښتنو دسلطنت ترکورنیو خورا زیات اهمیت لری ددې کورنیو غړیو دپښتو بشپړ دیوانونه مرتب کړی ، اوپه پښتو نثر سره ئی تاریخی کتابونه او رسالونه لیکلی دی ، خو سره له دی دپښتو دلومړنیو قاموسونو لیکل د حافظ رحمت خان په کورنیو پوری اختصاص لری ...

ددې دورې ادب ته یوه لنډه کتنه : هره دوره پخان سره ستر عامل دی چه دعصر په شعراوادب کښی ئی څرگندی اغیزې وکړی دپښتو نظم په دې وخت کښی ډیره برخه لری ، او شعر ئی هم د مو ضوع په لحاظ دوې ستری حصی د ی لو مړی عشقی اوتصوفی ،دوهمه دینی او مذهبی چه علت ئی دادی :

۱-داسلام دسپېڅلی دین دپراخوالی په سبب، مذهبی جذبات تقویه او دینی علوم په ستره پیمانه مروج وگرزیدل، نو پوهانو ،شاعرانو په خپله ژبه پښتو کښی دینی تکالیف، اومذهبی القاءات ترجمه کړل ، خو هرکله چه مطالب دنظم او شعر په ژبه خلص او لنډ ادا کیدای شی نوملی شاعرانو مذهبی تکالیف، اداب اومقررات په شعر سره بیانول غوره کړل که څه هم داکار دپښتو دادب په دریمه دوره کښی هم شویدی خو په دغه څلورمه دوره کښی څه قدر زیات والی لیدل کیږی .

۲- هرکله چه دمغلو په دوره کښی تصوف خورا ښه انکشاف میندلی ؤ نو پښتنو شاعرانو هم له پارسی ادب څخه مخصو صا دخواجگانو ارشادات په شعر بیان کړی اوله ظاهری نړۍ څخه باطنی نړۍ ته متوجه شول ،اودوحدة الوجود، او وحدة الشهود مفهومات ئی دحقیقی عشق په اصطلاحاتو سره افاده کړیدی اولکه دپارسی د شاعری په شان د پښتو دادب ستره برخه ئی هم اشغال کړیده .

۱- هرکله چه دپښتو ستروشاعرانو . اومتصو فینو تصوفی اشعار غوره کړی لکه اخون دروېزه ،رحمان بابا - نو د پښتو راوروسته شاعرانو هم دهغوی دتصوفی اوعشقی ښو نخیو پیروی کړیده او دپښتو زیاته بر خه ئی د تصوف او عشق اشعاروته ور کړه .

٤- هرکله چه مذهب اوعشق له عقیدوی موضوعاتو څخه دی ، نوشاعرانو هم دمذهبی افکارو داغیزو په اسره دې ډډې ته میلان ښکاره کړی اومحیط هم پدې باره کښی دهغوی د کسبی میلان ښه استقبال کړی دی ، پدې وجه په پښتو کښی د دغو اشعارو پله درنه شویده .

پرته له عشقی اومذهبی اشعارو، قصصی اشعار هم پدې زمانه کی زیات شوی ، وجه داده چه هرکله چه پارسو کښی منظوم اثار ډېردی نو دزمانی په تېریدو سره ئی په پښتو هم اغیزی غور زولی بله داچه قصصی اشعار د تفریح او ساعت تېری ستر اسباب ګڼل کیږی ، نو جنګنامی ، حماسی اشعار ، د حوادثو تصویر په نظم کښی ډېرشویدی - دابرخه په تېرو برخو کښی هم شته خو په دې دوره کښی پله لاپسی درنه شویده، لکه دریدی خان برهان خان، مسعود ګل ، عزیزخان او نورو رزمی اشعار ...

دالفاظو اودسبك په لحاظ هم ددې دورې په اشعارو کښی نوی تحول لیدل کیږی ،مثلا عروضی اشعار ډېرشوی دی اودتحریری ادب ګرده برخه دعربی اوپارسو په عاریتی او زانو مطابق دی همداډول دمذهبی علومو دزیات ترویج په سبب عربی اوپارسی کلمات دپښتو په شعر اوادب کښی را ننوتی ، تردې چه د پښتو دزیاترو کتابو نومونه هم عربی یاپارسی دی لکه افضل الطرایق، اسرار العارفین ، نافع المسلمین ،گلدسته او نور ...

اما پدې دوره کښی د ملی شاعرانو یعنی بی سوادو پښتنو شاعرانو ،اشعار د پردیو ژبو له اغیزی څخه ساتل شوی دی، لکه چهاریتی،سندری، موسمی بدلی ،لنډی ، نیمکی اونور شفاهی

اوملی اشعار چه‌دزیاترو جوړوونکی هم نه دی معلوم .

دپښتو نثر : پدې دوره کښې دنثر اثارهم ډېر شو یدی چه‌ستره برخه ئی تاریخی کتابونه ، اونکلونه دی پدی باره کښې دپادشاهانو مرستی اوعمومی ذوق خورا موثر لیدل کېږی ، خوتاریخ مرصع اوپټه‌خزانه‌او تذکرة‌الملوك ددې دورې دنثر ممتاز کتابونه دی....

عشقی قصی چه‌په‌نثر سره دازمان ډېری شو یدی ، یوازنی محرك ئی دعمومی ذوق استقبال کښل کېږی . په پښتو کښې هرګوره شفاهی افسانی ډېری‌دی اودپښتنو په ذوق برابری‌جوړی شوی او ویل کېږی .

دبیر محمد کاکړ تعلیمی نثر د (معرفة الافغان) په نامه هم دیادونې وړدی ، همدا ډول دامیر محمد ، پښتو گلستان ددې دورې په نثر کښې دقافیې التزام له منځه ویستلی او امتیازئی یوازی په‌روښان اودرویزه باندی محدود پاته‌شویدی-دلته دنثر سبك هماغه دخو شحال ساده نویسی‌ده خو محمد هوتك دپټی خزانې د نثر په شهادت هغه لاښه روان کړی ځکه سربېره په روانۍ ، محاورې ته نژدې اوجملئی هم‌لنډی دی ، لدې کبله دهوتکو ددورې‌نثر عام‌فهم اوافاده‌ئی صریح ده چه هر پښتون که‌څه‌هم بی‌سواده‌وی‌بشپړه استفاده تړې کولای شی - دتاریخ مرصع، او د« علمخانه دانش» او د ځینکو دکورنۍ په نورو منثورو اثارو کښې د پارسی تاثیر ډېر دی بلکه ځینې جملی ئی کټ‌مټ دپارسی رنګ لری ، مګردانقیصه دهو تکو دکورنۍ په‌نثر کښې نشته اویالږه ده...

په‌عمومی ډول ددې‌دوری د نظم اونثر دکتابو فهرست چه دپښتو دادب په‌تاریخ کښې لیکل شوی او د ځینو کتابو په نامه یادشویدی تر(٦٧) کتابو پوری ر سېږی چه دټولو یادونه‌دلته مورد نه لری .

پنځمه دوره له ۱۲۵۰ هـ - ۱۸۳٤ع څخه تر ۱۳۵۰ هـ ۱۹۳۱ع پوری دمحمدزیو عصر :

داړو دوړزمانه : وروسته تر ۱۲۳۳هـ چه‌شاه محمود سدو زی دوزیر فتح‌خان دوروڼو په‌مقابل کښې مغلوب شو د محمد زیو دخاندان دوره شروع شوه‌مګر هرکله چه‌سردارمحمدعظیم‌خان اوسردار شیردل خان‌او نورومملکت دملوك‌الطوائفی په‌توګه اداره کاوه ، او له خپلو نورو ورو نږو سره لکه سردار دوست محمدخان ، سردارسلطان‌احمدخان، سردار یارمحمدخان اوسردار حبیب‌الله‌خان ، (وراره )او نورو سره په جګړو اخته‌او ۲۱ کاله یعنی تر۱۲۵٤ هجری پوری داړودوړ زمانه وه پدې کښې په‌هرات ، کابل ، سند ، پېښور ، کښې له ابدالیانو ، دسیند خانانو ، دپنجاب حاکم رنجیت سنګه او په خپل منځ کښې یوولس جنګه تېرشول،ترڅو چه‌دوزیر فتح‌خان ورونه له‌جګړو ستړی اومشران‌ئی لکه‌سردارمحمدعظیم‌خان او نور وفات شول، نودوی ودې نتیجې‌ته ورسېدل چه له خپل منځ څخه سر دار دوست محمدخان په‌پاچاهۍ غوره کړی هغه و چه امیر دوست محمد خان د افغانستان پاچاشو . ( ۱۲۵٤ قمری کال).

هرکله چه دا مهال استعمار چیانو هند نیولی و نوډیو کال وروسته په۱۳۵۵ هجری کښې دافغان او انګلیس جګړه واقع اوامیر دوست محمد خان موقتاً له‌منځ نه ولاړ خود افغان ملت ٤ کاله داجګړه دانګلیس له‌دولت سره‌تر ۱۲۵۸ هجری پوری وګالله اوپه قندهار، زرملی ، کنړ ، سنګوخیلو ، کابل، خورد کابل ، اسمالف، ګندمك ،جلال آباد اونورو ځایو کښې‌ئی‌جګړې ته‌دوام ورکړ په‌نتیجه کې‌انګریزان‌له‌افغانستان‌څخه‌طرد اوامیر دوست محمد خان بېرته دافغانستان دپاچا په‌عنوان کابل ته‌راغی اوله ۱۲۵۹ تر۱۲۷۹ هجری پوری‌ئی‌حکومت وکړ،خوپدې۲۰ کاله پاچاهۍ کښې‌امیردوست‌محمدخان‌لس جګړې پداخل کښې وپاللې لکه‌دباجوړ ، هزاره ، بامیانو ، مقر، نجراو ، تګاب، ماماخیل ، بابکرخیل ، کجرات ، قطغن ، بدخشان ، هرات او نورې جګړې .

امیر شیرعلیخان : په۱۲۷۹ هجری کال‌په‌کابل کښې پاچا شو ، اوتر۱۲۹٦ هجری پوری سلطنت وکاوځ خودخپل۱۸ کلن سلطنت په‌لړ کښې۱۲جګړې دخپلې کورنۍ له‌غړیوسره‌وکړې لکه دتخارستان ، مهمندو،باچګاه ، جلدلك ، سیدآباد ، قلات، پنجشیر ، قندهار ، د مرغلی غونډی ، ششګاو ، هرات ، میمنې جګړې اوپه‌پای کښې دافغان اوانګریز په‌دوهمه جګړه کښې‌دی پخپله د منځ نه‌وځت ، اودافغان ملت مجبور و چه‌له ۱۲۹٦ تر۱۲۹۷ هجری کال پوری دوه کاله په‌غرو ، رغو ، خوست ، جلال‌آباد ، قندهار، کابل، شاه جوی ، میوند ، اونورو مځکو کښې دانګریز دلښکرو په‌مقابل کښې‌لس خونړې جګړې‌تېرې کړې خوبه اخر کښې‌انګریزان‌طرد ، اوپه افغانستان کښې‌نوی حکومت‌جوړ شو .

امیرعبدالرحمن‌خان: ۱۲۹۷ تر ۱۳۱۹هجری‌پوری دافغانستان دپاچا په‌حیث ۱۳داخلی‌جګړې‌په‌هرات ، قندهار ، پنجشیر، نجراو ترکمان ، کنړ ، لغمان،اندر،غزنی کك ، ساو کلمان ، هزاره نورستان اونورو ځایو کښې وکړې . همدا ډول په اجباری او تحمیلی ډول ، دافغانستان مشرقی‌ولایتونه‌دسرحد آزاد، اودصوبۀ سرحد په‌نامه له‌افغانستان‌څخه مجزی اودبرتانوی هند په‌حدودو کښې ور ګډ کړشو،تردې پس په‌سواؤ محلی جګړې دبرتانیې له‌دولت سره اوشپارس لویی جګړې، دټولو افغانی قبائلوله‌خوا

لکه بلوڅ، سندیان ، مهمند ، وزیر ، مسعود ، ورکزی ، شیرانی، یوسف‌زی ، اونورو پښتنو ، په بلوچستان ، سند، خیبر پښتون ، یوسف زو ، مهابن ، امازی ، زدون ، انبیله ، بنیر ، کوهاټ ، وزیری ، کوښته ، اټك ، لنډی کوتل او نورو ځایو کښی د آزادی ، اوملی استقلال اودافغانی خاوری دخلاصولو لپاره دهندی انګریز له‌دولت‌سره وکړی ، او پدې ترتیب سره دیږې پیړۍ (یوقرن) په‌ترڅ کښی‌دافغان ملت‌او حکومت تقریباً (نوی) جګړې په‌خپل منځ‌اوله‌استعماریونو سره کړیدی چه‌نور فرصت دعلمی اومدنی ، ادبی‌پرمخ تك‌لپاره په‌لاس نه‌دی ورغلی، پدې یوه‌پیړۍ کښی ونورو اجتماعی اړخونو په‌ترڅ کښی علوم او ادب هم له نظامی پښتو سره مخامخ ، اودعلم ، فن‌او ادب‌ترقی ورڅ‌په‌ورڅ مخ په‌ځوړ روانه‌وه ، اوهرکله چه په مملکت کښی دادب اوژبی دروزنی لپاره کوم مرکز وجود نه‌درلود ، اوهغه علمی اوادبی‌دستګاوی‌چه‌دهوتکواوسدوزود حکومت په‌لومړی دوره کښی نهضت کړی‌وو ، ښه‌ته له‌جمود اوخمود سره مخامخ شوی ، یوازی له۱۲۷۹تر۱۲۹۶ هجری پوری‌دامیر شیر علیخان په‌پاچاهۍ کښی په ټولو اجتماعی چارو کښی نوی اصلاحات شروع اودمنظمو عسکرو تشکیل اودهغوی د ترتیب اوروزنی دپاره نوی ګډتور کتابونه له‌انګریزی څخه ترجمه شوی‌اود امیر شیرعلیخان ترټولو ستر کار د پښتو ژبی تربیه اوددې ملی ژبی ادبیاتو لره اهمیت اوتوجه ده ، ځکه دده په سلطنت کښی پښتو عسکری ژبه ومنله شوه ، اود عسکرو قوماندی ، عسکری لقبونه ، دمنصبدارانو ، نومونه ، او ټول عسکری اصطلاحات په پښتوژبه راواړول شول، چه تراوسه‌هم په هغه نظام‌جاری‌دی امیر شیرعلیخان‌فرمان‌صادر کړی‌و، چه ټول نظامی تعلیمات ، مشقونه دی په افغانستان کښی په‌پښتووی، نوعسکری تعلیمنامی لښکری فرمانونه ، دقواعدو کتابونه او داسی نور ډېر شیان دده په‌حکم له انګریزی څخه په پښتو ترجمه شوی وو ، ده د افغانستان د عسکرو دعصری تعلیم او تربیی لپاره یوستر پوهاند ، قاضی عبدالقادر یوسف زی له پښور څخه‌راووښتی و چه دشاهی لښکرو دښوونکی په منصب سر لوړی وۍ ، د امیر شیرعلیخان په زمانه کښی درسمی مامورینو نومونه هم په پښتو اوښتی وو لکه : صدر اعظم « لوی ټول مختار » مستوفی « لوی ملك » دبیرالملك « لوی کښل » خزانه دار عمومی « لوی ټولونی » خارجه وزیر « لوی دمین دباند » ټول مشر « سپه سالار » او داسی نور مقدماتی خدمتونه چه نومورې اعلیحضرت د پښتو ژبی دروزنی لپاره کړیدی د امیرشیرعلیخان په دوره کښی لومړۍ پلاد ( شمس النهار ) پنامه یو اخبار جاری شو چه په هفته کښی به یوه پلاد ډېری په چاپ په ( ۱۲۹۰ هجری کال ) خپریده او ښایسته ډېره موده بی خیرونی کړیدی ـ دوې چاپخانی هر ګندې دی . لکه یوه‌مصطفا اوبله شمس‌النهار ده، دنوروچاپخانووجودهم‌هغه‌وخت احتمال‌لری چه وې‌به‌وایی چه امیرشیر علیخان دپښتو له ادب‌سره مینه درلوده اود پښتو اشعار به یې لوستل ، ځینی دپښتو لنډی هم ده ته‌منسوبی دی ، او دده په وخت کښی د پښتو دشاعری بازار ډیرته تودشو ، اوډېرو پښتنوشاعرانودنومورې اعلیحضرت په پښتو مدحی ویلیدی لکه دوست محمد کاکړ ، فیض محمد اونورو .

امیر عبدالرحمن خان : ده افغانستان ته‌د مرکزیت ورکولو په‌کار کښی‌په‌خورا سختی سره کار کړی ، ـه دماوك الطوائفی دور کولو لپاره کوشش کړی ، امیرعبدالرحمن‌خان‌په۱۲۹۷ه کښی ټولواك او په ۱۳۱۹ هجری کال وفات شو ، دده‌په‌دربار کښی هم پښتانه پوهان لکه مولوی عبدالرؤف کاکړ ، مولوی عبدالخالق شلګری ملا زمضان هوتك، اوداسی نور موجودوو ، ملاغلام‌جان لغمانی دده ددربار له‌سترو پښتنو لیکوالو څخه‌ؤ ، چه دامیر عبدالرحمن خان اود هند دوایسرای په منځ کښی چه مذاکره شویوه هغه‌یی د (سوال او ځواب‌دولتی ) پنامه په پښتو نثر ترجمه کړی اوپه (۱۳۰۳ هجری کال ) چاپ شوی هم ده همداډول امیرعبدالرحمن‌خان چه‌دتاج التواریخ په نامه یوتاریخ لیکلی اویوه پښتو نصیحت نامه ورسره‌ده چه سیاسی ډډه‌اری، اوهغه نصیحت نامه هم په۱۳۰۳ هجری کال چاپ شویده .

امیرحبیب‌الله خان : په (۱۳۱۹ه) کال پاچاشو اوتر۱۳۳۷ هجری پوری یی آرام سلطنت وکړ، دده زمانه د تعلیم ، زده کړی اوځینوعصری موسساتو په‌لحاظ دوینتوب زمانه ده، پدې مهال کښی دوې لیسی دعسکری اوملکی تعلیماتو لپاره په‌کابل کښی جوړی شوې اوځینی کارخانی اونور عصری شیان په‌کار اچول شویدی، دامیرحبیب‌الله‌خان‌په‌وخت کښی د(سراج‌الاخبار) جریده راوتلې ده چه خپرونویی د افغانستان دفکری‌اوعرفانی حرکت لپاره ډېرخدمت وکړ ، پښتو هم پدې مهال کښی دخپل ژوند په‌نوی مرحله پښه اینبی، دسراج‌الاخبار په پانو کښی دپښتو اشعار، دپښتو متلونه، او دمرسل نثر ځینی ټوټی خپری شویدی، اودا لومړۍ اخباردی چه دپښتو ژبی دادب لور ته متوجه شوی‌دی، دامیرحبیب‌الله خان په‌زمانه کښی پښتو تعلیم اهمیت پیداکړی په ښوو نځیو کښی داخله شوی اوځینی‌مکتبی کتابونه په پښتو ولیکل شول، مولوی صالح محمد خان پدی وخت کښی دپښتولومړی کتاب ولیکه چه چاپ شو، اوپه ښونځیو کښی به‌لوستل کیده، ددې‌وخت دپښتو پوهان او مشهور درباری‌لیکوال،غلام‌محی‌الدین‌افغان،مولوی‌عبدالرؤف‌خان‌مولوی عبدالرب، مولوی صالح محمد، مولوی محمدصدیق خوستی او

ملامحمد افغانی نویس دی، بدې زمانه کښی له پښتور څخه‌هم یواخبار د (افغان) پنامه خپریدی چه دپښتو برخه یی در لوده دا اخبار له (۱۹۱۱ع) کال څخه پخوا جاری شوی اود دغه کال په یوه گڼه کښی دترابلس غرب په‌باب کښی چه اټلی حمله پرې باندې کړېوه دسیدراحت یوباحرارته شعرخپور شویدی .

امیر امان‌الله خان : په۱۳۳۷ هجری‌کال پاچاشو ، اوتقریباً لس‌کاله یی پاچاهی کړی، بدی‌زمان کښی مکتبونه ډ پر شول اودپښتو ژبی ښوونه اوروزنه په مکتبو کښی‌څه‌قدر زیاته شوه ، یوه‌ټولنه د«پښتومرکی» په‌نامه دافغانستان له‌سترو پښتنو ادیبانو اوپیاوړیو فاضلانو څخه جوړه شوه، پدې مرکه کښی د هری قبیلی اوهری‌خوا یوه‌یوه پښتون، ادیب گډون درلود، دې ټولنی دپښتو په‌خدمت کښی‌ښه‌برخه واخسته، د پښتو کرامری قواعدیی ولیکل اولغات‌یی راټول کړل، نوی‌نوی نومونه‌یی هم کښودل اووضعی صلاحیت یی هم لاره «پښتو پښویه » « یواځنی پښتو» اودپښتو دلغاتو یوکتاب هم پدې وخت کښی خپور شویدی وایی چه داوخت دپښتو یوستر قاموس هم لیکل شو یوو مگر چاپ‌شوی نه‌دی،خوله ښه‌مرغه، ښاغلی عبدالله‌خان افغانی نویس دپښتو مرکی یوه غړی دهغه قاموس یونقل له ځان سره‌در لود چه‌څوکاله‌پخوایی‌دځانگړی کتاب په‌شکل‌ولیکه او د «اریانا» ستره جایزه‌یی‌هم وگټله، ددې کتاب دوه توکه‌دپښتو ټولنی له خواچاپ شول .

پدې دوره کښی «طلوع افغان» په قندهار کښی او اتحاد مشرقی «په جلال آباد کښی، اوامان افغان په کابل کښی خپرېدل چه دپښتو مهمه برخه‌یی هم درلوده ، ددې زمان ستر پښتانه لیکوال اوپوهان‌مولوی عبدالواسع، مولوی عبدالو هاب مولوی محمدصدیق‌خوستی،محمدزمانخان طرزی، کاکاسید احمد لودین، مولوی محمدحسین اورمړ، اوداسی نور کسان وو، چه ځینی‌دپښتو مرکی، غړی هم وو، دامهال مولوی صالح محمد قندهاری دپښتو تعلیمی دوهم او دریم کتابونه هم د لیکل دا کتابونه د پښتو په تعلیمی پروگرام کښی هم شامل وو چه په ښوونځیو کښی به‌لوستل کېدل دا مهال دپښتو دصرف‌اونحوی پنامه هم یوکتاب لیکل شویدی .

په‌عمومی ډول دمحمدزو په لومړی دوره کښی د داخلی اوخارجی استعمارچیانو داړودوړ په‌وجه د پښتو ژبی ادبی نهضت په ابتدائی ډول متوقف لیدل کېږی ، که‌څه‌هم ځینی شاعران لکه میرزا حنان، صدیق اخون زاده اوځینی نور په مغرب کی او مشرقی‌لوکښی‌موجوددوو ، خو لومړی پلاچه د پښتو ادب اوژبی‌ته‌ښېره توجه شویده داعلیحضرت امیرشیرعلیخان دی چه پدې باره کښی‌ئی ښه‌پام‌لرنه درلوده او دده په‌امرقوماندې او عسکری اصطلاحات، درتبونومونه ، دملکی او عسکری درسمی مامورینو نومونه، اوځینی تعلیمنامی له انگریزی څخه په پښتو ترجمه شوې دی، دامیر عبدالرحمن په زمانه کښی دانهضت په ځای پاته‌شو، بوالځی دملاغلام‌جان لغمانی یودوه اثره په‌پښتو لیکل شوې اوخپاره شویدی ، دامیر حبیب‌الله خان په‌دوره کښی بیادپښتو دادب نهضت شروع شوی په سراج الاخبار کښی به پښتو خپرېده اوغلام محی‌الدین افغان او ملا محمدخان په «افغان نویس» مشهور، مولوی صالح محمد خان قند هاری اوداسی نور لیکوال او شاعرانو په پښتو ژبه اشعار او دنثر تعلیمی کتابونه لیکلی دی، چه دحبیبیی په‌لیسه کښی هم پښتو لوستله کېده، نو لدې وخته څخه دپښتو دنوی حرکت لپاره په افغانستان کښی زمینه جوړه‌شوه، که‌څه‌هم دامهال د پښتو نثر نظر پخوا وخت ته دونه ډېرفرق ندی کړی بوالځی لفظی‌تحول شته اوبس .

پدی‌دوره کښی دپښتو اشعار : پخوا تردی به‌دپښتو شاعرانو د نقلو اشعار ، عشقی او مذهبی منظومی جوړولی مگر په‌دی دوره کښی دپښتو په‌اشعارو کښی‌یوه‌نوع څرگند تحول پیښ شوی‌اودزمان‌اومکان دموثراتو په‌وجه د افغانستان اوانگریزانو دسختو او مکررو جگړو، اودقبیلوی او داخلی شخړو او نښتو په‌علت دپښتنو شاعرانو احساسات هم په هیجان را غلی اوپه خپلو اشعارو کښی ئی‌په‌رزمی، اوحماسی‌اشعارو پیل کړی اوددې زمانی دپښتو په‌ملی ادب کښی د حماسی او جنگی اشعارو پله خورا درنه ده مگرددې وخت د اشعارو ممیزاة دخوشحال خان اودهغه دکورنۍ دغړیو د حماسی اشعارو په نسبت چه‌هغه هم دمغلو اوپښتنو دجگړو په‌مهال کښی ویل شویدی دونه فرق‌سره لری چه‌ددې‌وخت‌حماسی اشعارټول دملی‌وزن اوپښتنی احساساتو او ژلسی لغاتو لرونکی دی مگر د خوشحال خان او دنورو پښتنو شاعرانو منظومی چه هغه مهال یی ویلیدی، دعروضی قواعدو په‌اساس اودپارسی اوعربی‌بحورو ، اواوزانو په‌مطابق لیدلی کېږی پدې حیث سره که‌څه هم ددې دورې دشاعرانو اشعار دادبی نکاتو، اوبدیعی‌صنائعو په‌لحاظ نظر دمغلو ددوری اشعاروته ټیټ او دادبی نزاکتوله ډډی عاری بر ښکی مگر دپښتنی سبك اواصالت له‌کبله دا اشعار دملی ممیزاتو بشپړ لرونکی اودعروضی انحصار له کړۍ څخه و تلی اوآزاد، او دوگړیو، فهم اوذهنیت ته هم ورنژدې دی ، دبیان سبك یی روان، ساده، بی‌تکلفه اوعلمی لغات هم لږ پکښی لیدل کېږی ددې دورې دشاعرانو، او لیکوالو لنډ شرح حال :

سردار پردل خان : داسردار دمشهور سردار پاینده خان زوی‌دی چه دامیردوست‌محمدخان ورور کېده،دی په۱۲۰۰هکال زوکړی او د ( ٤٥ ) کالو په عمر د شنبی په ورځ د میانی

سلخ ۱۲۴۵ هجری کال پقندهار کښی وفات اودحضرتجی صاحب په حظیره کښی ښځ شویدی پردل‌خان دری‌کاله په قندهار کښی پاچاهی هم کړی‌ده، سردار پردل‌خان اودده څلور نور وروڼه دقندهار له‌مشرانو څخه وو، چه پنځه سره پوهان، ادیبان اوعلم پالونکی دی، پردل‌خان‌هم په‌پښتواوهم په‌پارسی کښی شاعرؤ، دده اشعار په‌پښتو کښی ملی لهجه اوپه‌ملی وزن‌دی یومتد یـن متصوف اوپه ټوله معنایو پښتون سردارؤ، سردار پردل خـان دپښتـو شاعرانو په‌لومړی ډله کښی داخل، اشعار یـی عشقی اوملی سبك‌یی بهرته ژوندکړی، اشعاریی خوندور اوزیاتره یی سپری‌بدلی‌ویلی‌دی‌لاندی اشعاریی‌دنمونی په‌ډول ولیکل شول :

وې گوری‌د گل‌په‌شان‌می‌ژیړرخسار دیاردی عالم‌بی تمه داردی
یودی‌بوی دگـلاب راغی زهه می په‌تـاب راغی
پروت‌په‌بیغمی‌روم‌یو بشرمی‌په‌خواب‌راغی یرمخ‌می سیلاب راغی
ښه صفت درنگارنگ کوم هـوا د پـلنـگ کـوم
ستـا پـه تـو رو ز لـفو د رقیب سره جنگ کـوم
منگولی به‌په رنگ کـوم او دا مـی پیغـور نـدی
که‌شړی‌ درپسی‌لنگ کمه اوترشاترشا به‌نام‌ونگ کمه
ئی‌لرم‌پروا(پردل) دعشق په‌تهمت‌باردی عالم ئی تمه داردی

سردارمهردل‌خان «مشرقی» : سردارمهردل خان (مشرقی) دمشهورسردار پاینده‌خان محمدزی‌زوی اودسردار کهندل خان سکنیء ورور دی چه دافغانستان په‌ادبی‌تاریخ کښی ډېر شهرت لری، سردار مهردل‌خان د۱۲۱۲ هجری کال دمحرم په میـاشت کښی زېږېدلی اودخپلو لویانو وروڼو په سیوری کښی ئی لوړ ادبی تحصیلات کړیدی، سردار مهردل خان د پښتو ژبـی ستر ادیب اوپه پارسی ژبه هم عالم اوددیوان خاونددی، تخلص یی مشرقی اویوادب روزونکی اوعلم پالونکی سردار هم‌دی، دده ځای دقندهار په‌ښار کښی‌دفضلاؤ «ادبتون» اودشعر او شاعری ښونځی و، دده اول ملـگری میرزا حنان، حـاجی عبـدالله، صدیق اخوند زاده، ملامیران طرزی اوداسی نور ډېر شاعران او ادیبان وو سردار مهردل خان د۱۲۷۱ هجری کال ددویمـی خورپه۲۷ نېټه دجمعې‌په‌ورځ د(۵۹) کلو په‌عمر په قندهار کښی وفات اودحضرتجی په‌حظیره کښی ښځ شویدی میرزا احمدنومی شاعر دده دوفات تاریخ داسی ویلیدی :

احمد ازهر کس‌تفحص می‌نمود سال فوت آن‌شهٔ اقلیم جود
هاتفی بنهاد سربر پـاش گفت «منزل اوباد جنات خلود»

هرکله چه اخرنورمصرع دابجد پحساب (۱۲۶۶) کېږی اودهاتف سر (ه) = ۵ چه ورسره یو ځای شی نـو دسردار دوفات کال یعنی (۱۲۷۱ه) تري جوړېږی .

اشعار او آثاریی : مشرقی په پارسی کښی هم شاعر دی دیوان ئی ترپنځو زرو بیتو پوری رسېږی، دمثنوی د لومړی بیتونه ئی په زرو بیتو کښی شرح کړی«جمع‌الجمع» بوبل کـتاب په تصوف کښی‌لری، د مشرقی دپښتو اشعار هم په‌متفرق‌ډول موجود، دی مگر نظر دپارسی اشعاروته یی لږدی سبك یی روان اوخوږدی، مشرقی د پښتو په لـومړی درجـه پوهانو اوادیبانو کښی حسابېږی، مگر دپښتو اشعار یی ندی ټول شوی او ورك‌شویدی، دالاندی شعری‌نمونه یی دپښتوژبی لغوی وسعت څرگندوی :

پلو واخله له سیوز میر مخه میر منی
ستـا بی‌مخه راته شپی‌دی ورځی‌سپینی
ستـاله وره‌تللای نسوای‌هوری دوری
درته‌ناست‌یم‌په‌دربار پرې‌می‌دی سپینی
درست بدن‌می‌دپلتون په‌اور کښی وریت شو
په کوگل کښی‌می‌وې‌ښی‌توری سپینی
زه‌پښتون یم نه وېرېږم له رقیبـه !
ورته وبه کړ مه بیاښی سپینی سپینی
«مشرقی» دی په تیاره دپلتون ژاړی
ورته‌لمردمخ ښکاره کړه په‌مخ سپینی

په‌لومړی بیت کښی (سپینی) دورځوصفت‌اوپه دوهم کښی دپښی دشاپلی، په دریم کی‌توری اوسپینی‌غوښی مراد، دی اوپه‌څلورم کـښی مطلب‌سپیـنی خـبری‌دی‌په‌پنځم کښی معشوقی ته‌خطاب‌دی چه هغه له‌رنگه‌سپـینه‌ده .

میرازحنان‌قندهاری : دمیرزامحمدحسن‌زوی‌دقندهارد(مردکلا)په کلی کښی هستیدی ، دی دخپل‌عصرپوخ‌اوخوږ ژبی شاعردی ،د سردار مهردل‌خان ملگری اود(۱۲۵۰ه) په‌حدودو کښی‌دسردار له‌ادبی ښونځی څخه راوتلی اوله هغه ادیب سردار سره یې‌ډېر مینه درلوده ، دزوکړی نېټه یی نه‌ده څرگنده خودی خپل‌ځان سپین زېږی بولی او وائی ( مین‌شوېرتاحنان‌په‌سپینه‌زیره) ـهر کله چه سردار مهر دل خان په۱۲۷۱ هجری‌کال وفات شویدی اومیرزاحنان‌یی مرثیـه‌ویلـیده نو څرگندیږ چـه‌دی په(۱۲۷۱ هجری کی لاژوندی و ځکه‌ده‌ویلیدی :

اعتماد باندی د کړوندی حنانه
چه سردارمهردل له دی‌دنیایقین‌ولاړ

دحنان‌دیوان (٤)زره‌اشعارلری‌دده ددیوان‌غزلی ټولی (۷) (۷) فرده دی ، ددیوان په اخر کښی تر جمیع ، مخمس ، مثمن ، یو څو رباعی اومثنوی هم په پښتو ضمیمه شویدی ـ حنان په خپلو اشعارو کښی‌مبتکر دی مگر دحمیدبابا ستاینه کوی اووائی :

دحمیددخوش‌نظمی‌په‌زراعت کښی داحنان‌یی‌دی دشعرخوشه‌چین

د حنان په‌اشعارو کښی هرډول ادبی بدائع موجودی دی مثلا :

۱ - تقابله د (طباق له پولوڅخه)

په ګلشن کښې ګل تر تاخوشحاله نشته نه په مینه کښې بلبل تر ماحزین

۲ - تجنیس :

دجبین په چین یې زړونه واړه چین کړه
وایه خیست پدغه چین له چینه ، چین

۳ - په پښتو کښې دادلاندنی بیتو بداعت تراوسه ثرحنان نبه چاندی هر ګند کړی مثلا :

نیک بداد ازل وقتویش ؤ دچا بدچا نبه ؤ د چا بیش ؤ
ګل لشرمخم په پانهو کښې و نغښت اب ئی ستادیدن و داور پیش ؤ
عشق ایمدام ین لره ستی ؤ دبلبل تاب ر ګ د ګلوزیش ؤ
چه نوی طرحه شعر کړی حنانه ستاالفاظ دشاعرانو دزړه نپش ؤ

دا برغزل یې په پورتنی ډول سره معنانه ور کوی ، مګر حنان یوه ابداع هر ګنده کړی چه دهری کلمی یادپای توری د راتلونکی کلمی یاجملی دسرحروف دی ، لاندی به دااشعار سم و لیکو : نیک که بداد ازل له وقتو ویش شو

ؤ دچابد د چاښه ، هو د چا بیش شو
ګل له شرم مخ په پانهو کښې نبه و نغښت
تاب یی ستاددیدن نه ؤ دارو پیش شو
عشق قایم مدام مین لره سیتی و
دبلبل لتا به برګ د ګلو ر پش شو
چه می یو واررا پیاد شی یار رقیب هم
راته هرساعت ترمرګ بتر راپیش شو
چه په نوی طر حه شعر کړی حنا نه
ستا الفاظ د شاعرانو دزړه نپش شو

☆ ☆ ☆

دحنان یوقسمیه غزل :

په جنت نه یم خوش بی ده په وردیارمی قسم
خوښ په لذت یم دخواری په اعتبار می قسم
زړه می لتا وعده د وصل هر ګز نه ولیده
په نامیدی دتوري شپی دانتظار می قسم
پروا په ګل او په خار نکړم دجنون له نیفه
په سینه صافه آئینه دنوبهار مـی قسم
که می سر ولاړشی ستا په مینه لاخوشاله یم زه
په تیره تیغ دا،ستادورڅو، جوهردارمی قسم
تور بخت می نه ولیده هیڅ ستادکاکل شب قدر
په تورو مشکو ستا دزلفو په هرتارمی قسم
ستا د ګلګون رخسار له شوقه زه «حنان» داوښکو
ګلان کرمه هر ګړی په لاله زار مـی قسم

☆ ☆ ☆

له بروا شعار څخه هر ګندښی چه حنان پدې دوره کښې یو عروضی او په وزن او بحر تړلی شاعردی .

صدیق اخون زاده : صدیق په کام هوتک اودقندهار دښار د(بنکار پور) په بازار کښې د۱۲۵۰ هجری کال په شاؤخوا کښې هستیدی ، دی دسردار مهردل خان ملګری اویو پیاوړی شاعردی، هرډول اشعار یی ویلی ، طبع یی روانه او اشعار یی په ملی سبك ساده اودخپل عصر دپښتو شعراستاد ګڼل کیږی ، ، ده دهزلیاتو دیوان هم لاره چه دده تر مرګ وروسته ورك شو یدی - میرزا حنان دی ستایی اوتر (۱۳۰۰هجری) وروسته په قندهار کښې وفات شوی چه دښار شمال ته په عمومی حظیره کښې ښخ شوی د کلام نمونه یی :

دعاشی پکور کښې دومره دسترس لرمه
سر به قربان ترخپل جانان کم دونه وس لرمه
که ددیدن حج اکبر ګټی تلوار راو که
په سپین رخسار باندی دزلفو تور اطلس لرمه

☆ ☆ ☆

دآخند زاده دادوهم بیت : سپین رخسار باندی دزلفو تور پراتلس ، حج اکبر ، شاعرانه تلازمات دی .

باباسید ګل : دپکلی په (بیه) کښې هستیدی دپښتو ملی شاعردی دامیردوست محمدخان په وخت کښې ژوند کاؤ ، ده د (ګډر پور) د خان مدح و یلیده د کلام نمونه یی هبداده :

په ګډر پور کښې جمدارچه تازه تل اوسی
لکه امیر دوست محمدخان چه په کابل اوسی

☆ ☆ ☆

له یوی ملی بدلی څخه :

په زړا سری ستر ګی ولاړیمه دلبر ولاړشو
لکه آفتاب په شغلو پرماز دیګر ولاړشو
بل هرعاشق دمعشوقی ته په بورجل اوسی
بس که چه نن ترسید ګل سوی ځګر لاړشو

☆ ☆ ☆

فیض الله : دخاکریز په شاوخوا کښې د۱۲۰۰هجری کلو په لږ کښې زو کړی او په ارغنداو کښې ژوند کاؤ یو عالم او صوفی سړی ؤ ، اخلاقی اشعار یی هم ویلیدی د کلام نمونه یی :

ژیړ ګل می پریکاوو فساد راوسو بوستان څه سو؟
خپل بلبل می لویاوو پرالوته سو جانان څه سو ؟
هغه سرای چه ما تیار کی دنا بودی دنیا
کال په کال می ګلاوه پرنړیده سو بناشه سو؟
هغه باغ چه ما تیار کی د ژ یړ و ګلو
نو پرنومی ؤ باوو - پروچپده سو باغوان څه سو؟
هغه جام چه ماتیار کـی - دسـر و لبـو
لاس په لاسر می گرزاوو - پرخړپده سو ساقی څه سو؟

☆ ☆ ☆

سلیم : په‌کام علی‌زی اود گرشك زمین داور دی ، په ملی اوزانو یی اشعار ویلیدی د کلام نمونه یی داده :

بی‌اعتباره په‌دنیا کښی‌یم سرمښزم کوه پرما نظرصنمه
تب‌می‌ناسور په‌وینوسور کله‌رغښزم زحمی‌دزړه‌په‌سرصنمه

☆ ☆ ☆

که وفا داریی ، زمایاریی په‌ځیره بووار سم و گوره!
بنه می ژیړه په منځ دیره زما زړه‌لکه قلم و گوره
به‌زړه‌رنځور سینه تنور زمافریادهردم‌هردم‌وگو ره
مریض‌یم شپه اوورځ‌ویلښزم نه کوی باور صنمه

☆ ☆ ☆

ددې دورې هغه پښتانه شاعران چه‌دارمستتر د ( پښتونخوا هاروبهار) په کتاب کښی دهغوی حال اواشعار ذکر کړی اوپه نورو کتابو کښی ندی راغلی :

نورشالی: داشنغردی اوتر ۱۲۰۰ هجری وروسته ژوندی وۀ یوحماسی ، عشقی اورومان لیکونکی‌شاعرۀ ، ده هرډول‌اشعار ویلیدی اوپه‌ملی لهجه کښی‌ئی ډیرسوزاوگدازپټ دی د کلام نمونه‌یې :

مازدیگر راشه په‌تلوار که ځمایاریې
بل گودرته‌ځونه‌چه‌ملګری‌یو، دلاری
مازدیگر راشه
مازدیگرراشه په تلوار یمه بلبله
له جنګو نه پاته شوم ستا له کبله
تاچه خبره دکوکبې راته کو له
راشه چه درکړم سینه خوله‌زلفی‌تارتاری
مازدیگر راشه
زلفی‌تارتارمی‌غوړولی راته گوره
مړوند می نسه‌مه‌شرمیزه له‌پیغوره
چه می داداووزی سهار مهال له کوره
راسره کښینه‌په‌دی سره‌پلنګ‌قلاری
مازدیگر راشه

دوست‌محمدخټک : دمحمداکرم‌زوی دخوشحال خان له اولادی څخه دی‌چه‌ورنیکه‌یی محمد زمانخان قندهار ته را غلی‌و ،مګر نپټه یی‌نه ده څرکنده ، دوست‌محمد په‌خپلو اشعارو کښی‌خپل نیکه‌زمانخان‌متدین‌اوعلم پالونکی سړی‌بښئی ، ځکه دده اولاده تول‌دقرآن حافظان ، پوهان اومتصدفین تهرشویدی ، نو دوست‌محمد دخوشحال خان دکاله رونې ستوری دی چه دقندهار په لتوکښی ځلیدلی نوموړی ترځلوپښتو زرو بیتو پوری پخپله ملی ژبه اشعار ویلی اوپه‌شعر کښی‌هم‌پښه‌درجه‌لری ، د واعظه کاشفی‌تفسیر یی‌په ۱۲۷۵ه په‌پښتو ناثر ترجمه کړی اود عربی دلائل الخیرات‌شرح یی‌هم لیکلیده، په‌مروجه‌علومو کښی‌ئی‌مهارت‌درلود د بحرالعلوم عربی کتاب بی چه دډیرو پوهنو مجموعه ده دپښتو په‌اندیه‌مثنوی‌ترجمه کړی،دا کتاب۱۱۵۹مخونه‌اوتقریباً (۲۰۰۸۰) بیتونه‌لری بابونه یی۱۲دی اوهرباب یی‌ځانته کتاب ګڼل کیږی ده‌د اخلاق‌احمدی‌نومی کتاب له‌طریقه محمدی څخه په‌لنډه مثنوی په (۱۱۰۰۰) زرو بیتو کښی ترجمه کړی او(۷۷۲) مخونه لری دوست محمد په (۱۲۹۰هجری) کال دامیرشیر علیخان په عصر کښی‌د بحرالعلوم کتاب‌اوپه۱۲۹۲ه کښی داخلاق احمدی کتاب تمام کړی د سردارمحمدیعقوب‌خان چه‌دهرات نائب الحکومه ؤ مدحه ویلیده دشعر سبک، یی روان او ساده دی دده کلام نمونه:

داکتاب بحر العلوم دی پکښی‌هرشی بنه‌معلوم دی
پکښی ډ یر نصحیتونه له‌هر قسمه حکمتونه
بنه گوهرپکښی‌تابان‌دی ترافتابه درخشان دی
هرلؤلؤیی منور دی اشک له رویه دقمردی
کان د درود یا قوت دی هر گفتاریی دزړه‌قوت‌دی
آیا تو نه حدیثو نه پکښی ډپر دی د لیلونه
دنبیا نو دو لیا نو نبی قصی دی همر هانو
دهر رنځ شفا په شینه دهر دردو، دواکړ ینه

دده له‌طریقی محمدیی څخه :

ابراهیم بن اد هم ؤ دی و خد ای ته مکرم و
ده دابه په اجرت یاره وه اخستی بر خور داره
وعمان وته د لبره دی روان و و بهره وره
قمچی و لوبده له‌ده نه ببار ته دی و گر زبد نه
دقمچی په لور روا نه دی پیا ده شو قدر دانه
چاوی‌ولی‌پیاده‌تله کړی په‌سپرلی‌ولی‌تله نکړی ؟
ده وی زما اجاره داده مخ پاوړاندی نه‌تر شاده

دوستم : یوملی شاعر او دپښتونخوا په‌هاروبهار کښی‌ئی چهاربیتی راغلیدی، دده له‌اشعارو څرګند یږی چه دیوسف‌زو دخواۀ شاعردی نورحال‌یی نه‌دی معلوم دکلام نمونه‌یی داده :

نن ځواب را پسی بیاد دلبر را غی
که می بولی په ربښتیا چه اختر راغی

☆ ☆ ☆

اختر دی هغه عالم کا ندی دلبره
چه قلا ری پخپل کور نا ست بیغمه
زه به هغه ورځ خلاص شم ستا له غمه
که دی ماله، له مابنه خبر را غی
په مابن کښی دیوسف چغی سوری وی
هغه یاردی په‌یوسف‌مند، نرګس گوری
دواړه‌زلفی که خیرات دخدای په‌لوری
پر د یسی په زړه سوری قلندر راغی

☆ ☆ ☆

میرافضل: دپکلی‌ږد(بشانو)دعلاقی اوسیدونکی وٗ، د(۱۲۵۰ هجری) دحدودو شاعر معلومیږی، دده دکلام نمو نه داده :

په کشمیر کښی‌ځینی‌داسی بشری خیژی
چه یی زلفی تال وهی لکه نا ږی

سراسر په مظفر آباد کښی حسن نشته
دبمبو جونه واړه دی را نه ږی

په‌بالا کوټ کښی دچندنو اصل لښتی
له خپل یاره سره وی غا ږی غړی

دپکلی‌ږ جونی قبیحی رنگ یی نشته
مچ بنکی‌ږ کوتاه قدې پو کړی‌ږ

جونه کښې له خیا له گر زی
مازدیگر اوبوته ځی جوړی جوړی‌ږ

دکوهستان‌جونی‌دځپلمی بناپیږی دی
په پتن کښی عجیبه دنگی غړی‌ږ

بابوزی‌ږ، نخوزی‌ږ جونه دی اشرافی
توراوربل،توری ستر گی سپینی دیږی‌ږ

حسن‌زی جونه توری‌ږ دی د غاټواو
داختر ور ځی ځی غو ږی څړی‌ږ

اما زی‌ږ جونه چه‌ځان کاندی سمبال
د عا شقو زړو نه سکښی په چړی‌ږ

دبنیر دجونو څه به در ته وایم
موږ به نه شم که‌یی کړم یوه لمړی‌ږ

امانت‌ملیار : دیوسف‌زوپه (مینا) نومی‌ځای کښی اوسیدی، دارمستتروایی دی‌پنجابی دی اماجوته نه ده بنائی دی څه موده بنجاب ته تللی‌وی، امانت‌سو چه‌پښتون وٗ، اودښی وینا خاوند، دکلام نمونه یی داده :

تپره‌بیلتون زمادخوږ زړ گی‌قلاشخه‌دی،
چه‌راوستو له‌می په‌یارپسی ریبارشله‌ځی
ما به‌ریبارو که‌اتبارځکه می‌ځان‌ونه‌لید
شیرین‌صورت‌می‌دگلرنگی یوزمان‌ونه‌لید

☆ ☆ ☆

شاه‌گل : ددارمستتر په روایت یو ملی شاعر او په پښتور کښی هستیدی، یواخلاقی سړی معلو مېږی دالاندی غزل یی په هاروبهار کښی را غلیدی :

غم کړم غر قاب په‌سر بالا نفس و شیطان زمونږهمراه
غم کړ م غر قاب

څوك چه‌چاندی زرکاندی‌جست کافر مطلق دی بت پرست
شر یك پیدا کا د الله

دزمانی احوال شه نور خاونده تا ته می مخ تور
کاسیرشه‌غل امی‌ملا

غم کړم غرقاب په سر بالا نفس دشیطان ز موږ همراه

پایاب : په (۱۲۵۰ هجری ) کلو کښی‌ئی‌ژونددر لود ، په هار اوبهار کښی‌ئی دالاندی غزل راغلیدی :

مومنه پاڅه وختی، ته عبا دت کوه
رب له‌پنځه مونځو نه‌په جماعت کوه

مومنه پاسه،سحر،په‌دین کښی‌و کړه‌تلوار
مانځه کښی‌نشی اپسار، رب له‌صفت کوه

ماسپښین‌لس‌رکعاته‌کارونه ټول که‌شاته
زاری کوه الله ته غم د قیا مت کوه

مازیگرښه‌دی‌ځلور،مومنان واړه‌وی کور
دین‌دی‌راغلی په زور بیلمازته ست کوه

ماښام‌وړومبی کوه‌فرض‌دا په‌ډ‌ډ‌چاوینم‌قرض
کومه خپل‌رب‌ته عرض، پسی سنت کوه

ماسختن نه‌شماره، دری‌پکښی و تریاره
ښه‌و کړه فکر یاره ، دعا په وقت کوه

دودپرش‌دی‌ټول‌په‌حساب‌پدوی کی ډ‌پردی‌ثواب
رب‌ته دی‌سوال د(پایاب) سوال دجنت کوه

☆ ☆ ☆

حمیدگل : داحمید د رحمان بابا له خورئی پر ته دپکلی‌ږ دترنکی‌ږ (ترنگړی) دعلاقی‌دی، په هارو بهار کښی دا لاندی اقسانوی غزل راغلیدی :

شپږ زامن وٗ دخون کار دگل په شان
نامسلم تریې‌تنی پری کړې وار په‌وار

اوم جلادزوی‌یی پاته شه په‌کور کښی
یوه ورځ یی تعظیم و کړ لود پلار

زه رخصت در څخه غواړ مه پدره
له زړ گی می شین لو گی خپژی له‌نار

دی خونکار پاچاویل مه‌څه فر زنده
نامسلم نه‌لری ترس په زړه کښی‌خار

دشپږ غشی‌می خوږلی دی په‌دل کښی
ستاپه دیدن باندی په‌ما تپر پښی وار

علیخان : ددی شاعر هم دالاندی غزل په‌هار اوبهار، کښی راغلیدی او دژوند زمانه یی د ۱۲۵۰ هجری پـه حدود کښی تاکلی شو، نور معلو مات یی لاسته ندی راغلی دکلام نمـونه یی داده :

خوب وینم عالمه که یی څوك راکی معنا
سرمی ده په غېږ کی دجا نان پر زنگانه

خال‌یی‌پاس‌په‌ورو‌ځو باندی پروت‌دی‌پاچائی‌کا
لښکریی پری چا پیرې لکه مار په‌خزانه

ما له خپله یاره سره مهر و محبت کړ
بیل کړ عمازانو یار له مابنه بیـگـا نه

**راشه** علی خانه ځان په یارپسی ملنګ کا
ښه شوی چه ملنګ شوی په اخره زمانه

**عیسی گل** : دپښتو یوخوږ ژبی شاعر او د ساده اوروان کلام خاوندی دارمستتر په خپل کتاب کښی ده پیر اشعار رانقل کړیدی ، دژوندزمانه یی د ۱۲۵۰ هجری کال په حدودو کښی اټکل کاوه شی، **اشعار** یی تصوفی اوعشقی رنګ لری د کلام نمونه یی داده :

ای ادم زاده فانی دنیاده په مسخ دځمکی د چا بقاده
عبث واړه دولت غناده اخر فناده اخر فناده
هر د څښتن دی ګور دی و طن دی
دا کار چه ته کړی هر کز ښه نه کړی
حرص دی ډیردی مولادی هیردی دوردی نوردی وطن دی ګوردی
آخر فنا دی آخر فنا دی

**عبدالغفار** : هم دارمستتر دعصر شاعر واشعار یی په "هارو بهار،، کښی رانقل کړیدی دده ځای بشپړ ندی معلوم مګر د پښتو **ډخوا** ، او په دوهمه درجه شاعرانو کښی شمېرل کیږی د ده په **پاره** کښی نورهیڅ معلومات لاس ته رانغلو ، د کلام نمونه یی داده :

هلکه چری و نه کړی ځمادخو یښی رخیال دادامی غواړی مال
که ته ډیره زاری و کړی دادا به می درنکړی
ابر می کړه راضی ورپسی و لیږی دلال
دادمی غواړی مال
☆ ☆ ☆
**هلورسوه** روپی به دی دپلار په لاس شمار کړم
مولا که می نصیب کړی جنی ستادزنی خال
داد می غواړی مال
**ډښتیا** واړه هلکه که دزلفو د عوه ګیرئی ته
چه ستاد پاره و نسیم ز یارت د سید جلال
داد می غواړی مال

**بهرام** : د ۱۲۵۰ هجری کال په حدو دو کښی یوملی شاعر ګنل کیږی ځای یی ندی معلوم خود پښتو ډخوا کښی ئی ژوند تیر کړی، دالاندی غزل ئی په «هارو بهار» کښی راغلیدی :

معمور نشوم زه په وصال د دلبر
شو ګډی کړم مدام پسی زه شوم ابتر
سپین مخ دی ګلزار ، توری ز لفی سنبل
مروارید دی دندان د واړه لب دی سره زر
ستامقام دی په ښار خبردار شه ښارو
زه مین پر تا ډېر کمه تا وکړی باور
سپین مخ دی آئین ز نخدان دی ګبین
ټول صورت دی سپمین تجلی کا د نمر
چه عاشق دی بهرام ، ستا صفت یی کلام
په سلام دی مدام که ته ور کړی سلام

**برامت** : ددی شاعر نوم هم دارمستتر په اثر کښی راغلی، اشعار یی ابتدائی او د کوزی پښتو نخوا شاعردی ، د ۱۲۵۰ هجری کال په شاو خوا کښی ئی ژوند در لود ، د کلام نمونه یی داده :

دسینی خولې دشم قربان راپورته کړه چشمان
سرله پالنکه کړه راپورته درته ولاړدی عاشقان راپورته کړه چشمان
ځمادلبر شمس وقمر پرمخ راپرېوزده تورزلفان راپورته کړه چشمان

**اکرم جان** : په کام ترکانې اوداسماردی نژدی (٦٠) کاله پخوا تیر شوی ، اشعار یی په شفاهی ډول په وګړیو کښی مشهور دی ده په ملی وزن اشعار ویلی د کلام نمو ئی داده :

شاه محبوبه شوه راښکاره له بنګلی
پلوئی مخی ته دشال نیولی
سره ئی نتکی کو ی په مخ تجلی
لسکه بنامار خوله کښی ئی لال نیولی
شاه محبوبه را ښکار ښزی بدری
جامی ئی واړه زر زری و ینمه
دسرو اوګیرئی چاپیر تاوله مری
ستر ګی ئی دواړه اثری و ینمه
☆ ☆ ☆

**مجیدشاه** : ددارمستتر په پېژندنه دپښتو یوملی شاعر دی ځینی غزلی ئی په بهار نوروز کښی هم راغلی ،ځای یی ندی معلوم خود کوزی پښتو نخوا شاعردی ،د کلام نمونه یی داده :

سختۀ په ماده خدایه له ماجدا دلبرشه
دتورو خاورولاندی هغه شرین بشرشه
رنګ می تک تور که هجران وینو آشنا ګورستان
ومی لیدی خیل جانان جوړ به په ما اخترشه
اختر کړی هغه عالم چه زړه کی نه لری غم
شاځی له سترګو می غم غوڅ می ځګر شه
غوڅ می پکښی ځګردی زاړم شیه ورځ می ویردی
په ماهمیش شو ګیردی بخ می په زړه خنجرشه

**میرعبدالله**: دپښتو ملی شاعر او دار مستتریی دالاندی غزل رانقل کړی ښه ملی آهنګ لری:

ډوب شوم زه ستاپه مینه غم دهجران دینه
پرمخ می او بنی ځینه لو ندمی ګریوان دینه
ستاپه سوداشوم مجنون رواق له زړه نه می خون
هم را پسی دی ببلتو ن عمرمی ګران دینه
میر (عبدالله) شه ایسار دی دوصال تمه دار
شو په عذاب ګرفتار هی هی ار مان دینه

**احمدشاعر**: داسړی یوملی اوښه شاعر دی ، دار مستتریی دالاندی چاربیته رانقل کړیده :

لاندی تر آسمانه ولاړ بی اوبو دریاب دی
دوبیښی کل عالم پکښې لیدلی می داباب دی
لاندی تر آسمانـه دی لیکـلی پـه صادق
پرته ده یوه گټه په دریاب کښی په تحقیق
په منځ کښی ئی مهی دی پرئی سور لکه عقیق
پښتی ئی دمرمر ودی صورت ئی دتراب دی
لیدلی می داباب دی

میارجب : دپښتو یوملی شاعر اوپه ښوملی اوزانو برابرئی اشعار ویلیدی اصلاً دپښور دشاوخواؤ ، دار مستتر ئی دالاندی غزل رانقل کړی اود ۱۲۵۰ هجری کال په حدودو کی ژوندی ؤ

حسن وخال وخط لری څه عجب زینت لری
خال دی پـه رخسار سار خـال دی مقدم
پروت یم په در گاه ملنگ څکم مدام دمینی بنگ
زه ی مین یار ، یار گرزمه تل ستا په ننگ

☆ ☆ ☆

نن دی زخمی کړی دضمیر په کـنار ویم لحکه په نارویم
ساه می شوه بیرون صنم ستا په عاشقی کښی
بې گـناه وهلی دی په تبغو په کـټار ویم
لحکه په نارویم
حسن وخال وخط لری څه عجب زینت لری
سخته ده یاری کوم زاری په شو گیر ویم
لحکه په نارویم

☆ ☆ ☆

محمدخان : دپښور داشنغر یوملی شاعر دی ، دپښتو نخوا په هارو بهار ، کښی لحینی چاربیتی ئی راغلیدی چه خورا خوندوری اولـکه سپوږمۍ بدلوغوندی دی، د ۱۲۵۰ هجری د حدودو شاعرؤ، دکلام نمونه ئی لاندی و گوری :

اوښی دی دستر گو په مخ لحی نادانی رنگ به شی
مه زده پری دتور کمیس لستونی گو ندی رنگ به شی
اوښی دی دستر گو په مخ لحی اسرار دی کوم صنم
تاومی زړه ته پر پووت څه خوحال که رامعلوم صنم
چا ئی قهر ولی ، زر یی و ا خله راته نوم صنم
درنگ ساعت له کوره که خدای کاندی چنگ په چنگ به شی
اوښی دی دستر گو په مخ لحی نادانی رنگ به شی

☆ ☆ ☆

ارسلا : یوملی شاعر اوپه اشعارو کښی ئی خوراسوز پټ پروت دی ، دارمستتر دده یوځو چاربیتی رانقل کړی په اصل کښی دسوات دی مگر دده په باره کښی زیات معلومات نه لرو، دکلام نمونه ئی داده :

په تـورو څنو و ر له لاړم ننو اتـی
یارمی د کن له ته په خپله می که پاتی
په تورو څنو...
په تورو څنو ورته و دریدم سر توره
ورته می نیوه جولۍ چه دی ته گوره
سوال می قبول که درته وایمه په زوره
په کارمی نه ئی که نواب په ازربات ئی
په تور څنو...

عجم : داشاعر دارمستتر له اصله دوبی بللی اودبنیر اوسپدونکی دی بېله دی چه نوموړی مستشرق ئی یوه چاربیته پخپل کـتـاب کښی رانقل کړیده ، نور احوال ئی مونږ ته ندې څرګـند ، دکلام نمونه ئی داده :

نـن لحما دپاره تـه امیل پغاړه را لحه
له هوسه غو رزوه لستونې دواړه رالحه
نن لحما دپاره ته زلفانی دواړی غوړی که
له موزی سره په هرزمان جگړی که
داجامی پـه تهمت واړه ژیـړی کـه
له خاطره می هوسۍ دعقل لاړه رالحه

☆ ☆ ☆

بادر . دبادر یوه چاربیته د ار مستتر رانقـل کړی اوترې معلومېږی چه ده په چاربیتو کښی بشپړ اقتدار درلود لحکه چاربیته ویل اودونه قافیې پیدا کول اسانه کار ندی ، بادر په خپله چاربیته کی د (پېرۍ فقیر بابا) یاد کړی اوپه پرۍ په یوسف زو کښی یو کـلی دی نوښائی چه دی هم دیوسف زووی دکلام نمونه ئی :

بیگادی یم وهلی محبو با په کـټارو
درسته شیه په شو گیرودرته ناست یمه پرکاله
بیگادی یم وهلی محبو با شوم ز حمتی اوس
گرزم تهمتی که خاوند می مطلب سر کړی
نری نری فریاد کړی زما زړه لکه طوطی
شوم په سرو لمبوستی په هرلحای کښی زما شوردی
ستا دتورو ستر گـو په ما بیا را غله قا تی
چه دی واغوست بنا بتی شاه اور بل دی په مخ خوردی
بی هوښه لهونی شوم پدام گرلحم په میرو
شـوم خـوراك دمزرو نرې رنځ می شو ترکاله
نری رنځ خودی زیاتېږی څله گرزی په بیابان
چېری ونکړی ار مان راشه کـښېنه پـه پالنگ
له خیاله می زنگښی په سینه باندې ز لفان
په څښتن باندی مهران لـکه ته می شوی ملنگ
پراته می په دلبار کښی ستا په شان ډېر ملنـگان
ښه ز لمی دقبر ستان دی و لاړ زما په څنگ

دادا می نامسلم دی ورته کښینه په زار و
عمر تیر کړه په خوارو آخر در به می کړی تاله

کریم : یوملی شاعر دی اودالاندی چاربیته ئی د (پښتونخوا هارو بهار) کښی راغلی ده: داسی څرګندیږی چه کریم دوروستی طبقی له شاعرانو څخه دی ، نور احوال ئی نه دی معلوم د کلام نمونه ئی داده :

زه وړوکی هلك یم پلاره خله ماله کور کوی
وای وای سحر وختی ، ماله ساړه کښیږی
زه وړوکی هلك یم ، پلاره واوره دامنت لحما
ورنه کړی دولت لحما
ښځه نه شرمیږی خلق به کام کړی ملامت لحما
نشته دی طاقت لحما
اورم په غوږو پسی شاچه ته نږدور کوی
زه وړوکی هلك یم پلاره خله ماله کار کوی
جینی به وی ناشناددې طمعه دمبره کښیږی
وای وای سحر و ختی ماله ساړه کښیږی
له خیره سره زویه یوه نجل به ودوو درله کور په سازوو درله
ته له وړی مه مره یو کور به تود وو درله مو نږ آ گاوو درله
خاندی په عالم زومړی ته چه دلحان شور کوی
زه وړو کی هلك یم پلاره خله ماله کور کوی
کور په ښایسته دی چه نسی په کښی واړه کښیږی
وای وای سحر و ختی مالـه ساړه کښیږی

محمود : داشاعرهم مو نږ دارمستتر پـه واسطه پیژنو ، نوموړی مستشرق د محمود ډوبری چاربیتی پخپل کتاب کښی راوړی دی او یوځای لیکی چه محمود دمـردان دعلاقی دمرغز اوسیدونکی دی ، مګر د مردان په علاقه کښی مرغز نشته ، اودا دصوابی په تحصیل کی یو کلی دی، په هرحال دونه څرګنده شوه چه دی دیوسف زودی ، محمود په چاربیتو کښی د اقتدار خاوند اودنکلو مضامین پکښی بیانوی ، دده د کلام نمونه داده :

پخواله بابا آدمه چه آدم واړه په شمارو و لس دری شل اظهارو و
پخـوا دبابا آدم له زمـانی نه پـه یقین تـیـاره وه پـه زمـین
په ستر گوشه لیدی نه شو په څمکه وه اندیږ ډ ندو نه وو چا پیر
یوستوری ؤ په قطب چه رب دی که راحضور دیوان شوو له ملکه دور
دانور دپیغمبر نبی سرورؤ سا معـانو دروغ نه دی یـارانـو
رنړا شوه په هر لوری ددی ستوری له قوته قـربان ئـی له صفته
غاښونه دنبی په خوله کښی وراښکی ممتازوو لس دری شلی اظهارو و

ظریف خان : دی یوملی شاعر دی چه دلاندی بدلی څخه یی پیژنو، او دابدله ئی دارمستتر په خپل اثر (هارو بهار) کښی رانقل کړیده ، دده ځای نه دی معلوم اود کلام نمونه ئی داده :

یاره ستا په جیب کښی ز ما پیز وان
گمان می نښتی پر ون ما ښا م دی
یاره ستاله جیبه پیز وان می ر ا
مـا و پو ښتپده خیله ریبـا ره
و پر پیز مه ز ه له خپل پلا ر ه
که دی خبر شی داژوند می گران دی

☆ ☆ ☆

یاره ستاله جیبه ، پیزوان زه غوازم
حرام د خدای شه که درنه ولاړم
جـاکم له به لحم ، ورته به ژاړم
چه چا له ښه شی ، څرګـند تاوان دی
یاره ستا په جیب کښی زما پیزوان دی
گمان می نښتی پرون مـا ښـام دی

☆ ☆ ☆

غازالدین : دمتوسطی طبقی ملی شاعر او ډیری چاربیتی ئی ویلی دی ، اصلی دسوات اوسیدونکی اودسوات داخون صاحب مرثیه ئی ویلیده ، پښتانه شعرادی دپښور دشاوخوا اودیوسف زو بولی په هرحال غازالدین په ۱۳۰۰ هجری کښی ژوند درلود ، اودارمستتر ئی حماسی اشعار د پښتونخوا په هارو بهار ، کښی رانقل کړی، د کلام نمونه ئی داده، دسوات اخون صاحب له مرثیی څخه :

قربـان له تـاسم بدر منیره آوازدی خورشو ترهند کشمیره
اخر روان شوی له دی جـاگیره دسوات صـاحبه کـامله پیره
ن چه پیاد کـړم هغه دوران په مخ می شاخی اوښی بـاران
چه ستا په در کښی تول امیـران سر تور به ناست ؤ خوشحال ضمیره
د سوات صاحبه کامله پیره
خوشحال خندانه بالکل عالم وو چه ته ژوندی وی سوات باغ ارم ؤ
چه ستا فرقت شو په ماتورتم ؤ له هغی ورځی ناست یم دلگیره
د سوات صاحبه کامله پیره
یاهغه ورځ وه چه ته بادشاه وې په تول وطن کښی پشتو پناه وی
د مومنا نو د زړه تپکـاووی په سوات په سمه قاشقار تر دیره
د سوات صاحبه کامله پیره
زه غازالدین ستا مدح خوان شوم خونو مشهور په کل جهان شوم
چه له دنیا هروخت روان شوم هلته می غواړه له رب قدیره
د سوات صاحبه کامله پیره

سیداحمد : هم دغزلو شاعر، او دارمستتر ئی څو غزلی پخپل کتاب کښی راوړی ، په بهار نوروز کښی هم دده اشعار شته دی، دی دشعر او عصر په لحاظ په وروستی طبقه کښی حسابیږی ،

ده د ۱۳۰۰ هجری کال په شاؤخوا کښی ژوندکاو ، دونه شر گنده شویده چه دی د پښتو رڼا ، د کلام نمونه ئی داده :

یارمی لږ څه مهربان کړی ربنا
ورك له مائی دا هجران کړی ربنا
چه نومړی څوك داستا په بنه دوستی رشی
هغه خلك می رهبران کړی ربنا
غم زما چه عین دده دزړه مراددی
چاك ئی ته په غم گریوان کړی ربنا
چه ئی بار د بېلتانه دی پر ما اېښی
ماته ئی ته په سرسندان کړی ربنا
زه خپل یار ته تل دعا هسی کومه
چه ئی ته په زړه شادان کړی ربنا
چه زما په دردوغم ئی زړه بنه کېږی
هغه ما غوندی پریشان کړی ربنا
سید احمد چه د خپل یار په غم زهیر دی
دا مشکل پری ته اسان کړی ربنا

طالب جان : داشاعر دارمستتر پخپل کتاب کښی طالب گل ذکر کړی دی پخپله یوه چاربیته کښی وائی چه ځای می سنگینه ده، داځای دچېرهار په برسر کښی یووړو کی کلی دی ، نودی دچېرهار درود، اوسیدونکی ، اویوه چاربیته ئی چه د تیك او پیزوان سول اوځواب ئی پکښې نظم کړی خوراښه سندره ده، د ۱۳۰۰ هـ په حدودو کښی ژوندکاؤ د کلام نمونه ئی داده :

جگړه شوه په مخ باندی، د تیك او د پیزوان
تیك وویل پیزوان ته ستا بنایست زمانه کم دی
منکر لره قسم دی

☆ ☆ ☆

تیك وویل پیزوان ته ته گوره زما شانته
نجلی چه شی بالغه اول ډول په ما کاندی
جگړه شوه په مخ باندی
نجلی چه څان سنبال کا اوربل په وروځو جال کا
د پاسه ئی ماسور کاندی په مثل د سلطان د تیك او د پیزوان
اوربل لرمه تخت وښ شوی می دی بخت
پیزوانه بی فائدې لافی وهی دادی لوی غم دی منکر لره قسم دی
پیزوان دی تیکه نر یم د ډره په بنه دفتر یم
ته پروت ئی په ځنگله کښی نه شرمېږی چه لاخاندی
جگړه شوه په مخ باندی
ځنگل شو ستا په برخه دا ستا د کمی نخښه
بندی ئی همیشه سیل دی ونکړ دمیدان د تیك او د پیزوان
بل مړ شولی د و لږی چیچی دی ور ږی سپږی
زه پروت یم په حرم کښی بنه خوراك مقام می فم دی
منکر لره قسم دی
تیك وی مه وایه سپکی یو تن ئی څه به و کی
چار گل می کښولی په بندر کی در نه وړاندی
جگړه شوه پرمخ باندی
صفت دهر کالی دی، اشنا زما خیالی دی
چور چور په زړه رنځور مینی دیار که طالب جان
د تیك او د پیزوان
مسکن می سنگینه شوه غلیل زما سینه شوه
دیار می اندېښنه شوه زړه زما پسی قلم دی
منکر لره قسم دی

ملامقصود : دارمستتر ئی مقصود جان بولی ، دی د پښتو د کښی والی دی، چه بهادر کلی ته نزدی یو کلی دی ملا مقصود ، په کام خلیل مهمند ، اوخپل نوم ئی زیاتره په خپلو غزلو کښی ملا مقصود ذکر کړیدی ، ده به فرمایشی غزلی جوړ ولی او دشاگردانو ډله به ورسره وه، ده دلعل پوری اکبرخان څوخایه ستایلیدی اکبرخان دامیر عبدالرحمن خان معاصر ؤ، د ملا مقصود چاربیتی خورا ساده اوروانی دی د کلام نمونه ئی داده :

شین خال دی په مثال اېښی دورو ځو په پیوند
ځلېږی ز ر افشان
اور بل دی آلول لکه بخمل دی بنده بند
را پورته که چشمان

☆ ☆ ☆

شین خال دی په مثال اېښی د وروځو په مابین
د ورا یه تجلی کا
نری پو زه الف خوا زه د ی د واړه شفتین
زړگی می وا ویلی کا
زنخ لری گبین خوله دی شیرین سره دی عینین
څوك څه لره گیلی کا
جمال در کړی رب دا سی څر گند لری نسب
رایت دی که خاقان

گل محمد : دار مستتر د گل محمد ډېر اشعار پخپل کتاب «هارو بهار» کښی لیکلی دی وائی چه دی د سپین زېری توب په عمر د ډول دیال په هزارو کښی اوسېدی یوملی شاعر ؤ اوپه ملی وزن ئی اشعار ویلیدی ، د ۱۲۵۰ هجری په حدودو کښی ژوندکاؤ اوتر ۱۲۰۰ هجری کال دمخه زوکړی دی، گل محمد په هغو غزاگانو کښی گډون درلود چه بریلی (سید احمد) له سکانو سره کولی ده په ملی لهجه ډېرې قصی هم نظم کړی دی چه دارمستتر له هغو څخه د (سیداحمد) اوسکانو د جگړو قصه، د شداد ، د باغ اود سکندر د بېړی د ډو بېدو افسانی په خپل کتاب کښی لیکلید ی ،

د کلام نمونه ئی داده :

جنت‌شو په‌اته ځایه بنا حکم درب‌و
شداد چه جوړاؤ پدی‌دنیادائی سبب و
شداد چه جوړاو پدې‌دنیا داؤ خیال
جنت‌به کړم پوره زه‌به‌هرځه باندې سمبال
جړا وؤ پری یاقوت چه د مرمرو ئی دیوال
بیابنی حوری حو ران‌پکښی ساتلی مقرب ؤ
بیابنی‌حوری،حوران‌پکښی‌ساتی‌چینی حوضونه
د شاتو به لښتی پکښی بهیده لکه سیندو نه
دسروزرو مانیږ ښی چو تړې ښکلی‌تختونه
شاباش په‌استاکارشه‌چه‌جوړ کړی ئی عجب ؤ
شاباس په‌استاکارشه ده‌جنت کړ ورله سـز
دسرو سپینو ئی ونی خپل هنرئی که آغاز
دسرو زرو مرغانو پری د پاسه کـه پرواز
ښېښی ښه محلونه، هریو تحت دده مرکب ؤ
داقصه ئی ترپایه پوری خورا زړه وړونکی او شاعرانه رسم کړیده چه دشاعر دطبعی قوت څرګندوی .

لیونی محمد جی : دپکلی‌اوسپدونکی او د۱۳۰۰ هجری کال په حدودو کښی ژوندی ؤ ، دارمستتر داشا عر دابیټ‌آباد په‌محبس کښی لیدلی ؤ چه‌دلږونتوب په‌کناه بندی ؤ، دارمستتر وائی : (دمحمدجی اشعار نه‌یوازی دپښتو په‌اشعارو کښی بلکه په‌تولوعشقی ادبیاتو کښی داسی اشعاردی، چه د لرغونو اشعارو سبك پکښی ممزوج اوله شاعرا نه تخیلاتو او اغرا قاتـو څخه ډك‌دی) دده یوځوبیته دنمونی په‌ډول لیکو :

چه مازدیګر شی شاه دخان په جوړول ولګی
او ر می په کـو ګـل ولـګی

☆ ☆ ☆

چه مازدیګرشی شاه پغاړه ښه‌امیل کاندی
تـول د نجنو سیـل کانـدی
چه‌بخملی اور بل لـګیاوی تور فلیل کاندی
ز ړه لحما غـلبیـل کا نـدی
ګل غنچه شی لـکه زانې په کابل و لـګی
اور می په کـو ګـل ولـګی

☆ ☆ ☆

ګل غنچه شی چه داسور سالو په سرکاندی
بـر ښن لکه دنمر کانـدی
لاله وګرزی دابنـی جونـی خبر کاندی
لحان سره لښکر کا نـدی
ګـل دسته‌شی چه اشنا په کړول ولـګی
او ر می په کـو ګـل ولـګی

☆ ☆ ☆

حبیب‌الله اخون : جبیب‌الله اخون په (حبوا خوندزاده ) سره مشهور، دقندهار له‌خورا معروفو اوسترو علماؤ، څخه ؤ ، په‌کام کاکړ اودقندهار په‌ښار کښی‌ئی هستو ګڼه درلوده ، پـلار ئـی اخون ملا فیض‌الله ؤ، حبو، اخوندزاده پخپل عصر کښی د عقلی اونقلی علومولوی پوهاند اودډېرشهرت اوشاګردانو خاوندؤ ، دپښتو ټولنی په اثارو کښی‌دی په‌محقق‌قندهاری سره یاد شوی دملامحمد اعظم شلګری علامه شاګرد او زیات عقلی علوم ئی په شلګر کښی، تحصیل کړی ؤ، حبو اخوند زاده لـه مو لوی اسمعیل دهلوی‌سره علمی ارتباط لاره‌اوهغه پوهاند د سیداحمد بریلوی (سیدپاچا) له‌ملـګریوځخه ؤ، قندهاری محقق په عربی پارسی، پښتو، اواندکو کښی اثار لیکلی چه ټول مو لفات ئی تر(۲۰) کـتابو، پوری بولی ، وائی چه حبوا خون په‌عربی او اوپارسی ژبه‌هم‌اشعار جوړولی‌شوای خومونږته دده دغه اشعار نه‌دی را رسیدلی محقق قندهاری د(منهاج‌العابدین) په نامه یو کـتاب دامام غزالی له اثارو څخه دپښتو په‌لنډه مثنوی تر جمه کړی‌دی، دبیان طرزئی ساده اوخوږدی، دی دعلم په‌باره کښی داسی وائی :

علـم ډېـر عظیم دو لت دی — چه دد وو کو نو نعمت دی
ښه عـزیز نفیس ګـو هر دی — قیمتی صـافی جـو هر دی
د هر فضل او هنر کـان دی — دجهان په تن کښی جان‌دی
قوت د زړه قـوت دروح دی — سر مـا یه د هر فـتوح دی

دقندهاری محقق دزو کړی نېټه موږ تـه نشوه څرګنده خوپه ۱۲٦۵ هجری کال کښی و فات شوی اوپه قند هـار کښی مدفون شو .

عبدالمجید کاکړ : دحبواخون د کورنیږ اوشاګردانو تـه منسوب یو عالم اوپه دینی علومو کښی د ډېر شهرت خاوندؤ، دتدریس حلقه یی درلوده، خوراښه خطاط هم‌یادشوی، او دپښتو دادب په کلاسیکی کـتاب کښی را غلیدی چه‌ده «سیرت‌نبوی‌ص» په‌موضوع باندی یومهم کـتاب دپښتو په‌لنډه‌مثنوی نظم کړی ؤ چه تاریخی حیثیت یی درلود، خود کلام نمونه‌یی‌نده ذکرشوی ، دډېرینی نېټه ئی نده معلومه .

رسول داد : ددې دوری یو اخلاقی شاعر ؤ،ده‌د(درالبیان) په نامه په (۱۲۰۰هجری کال) یوکـتاب دپښتو په لنډه مثنوی نظم کړی چه یوبیت یی دادی :

چه تربیت دیتیم کړینه — ډېر ثواب ګوره لرینه

داشاعر په‌کام‌خروټی‌اود ګوملی په شاوخوا کښی‌ئی‌استوګنه‌لراه، دکتاب‌موضوع‌یی‌دینی‌اواخلاقی، اودبیان‌طرزیی‌ساده‌اوعام فهم‌دی

مراد علی صاحب زاده : دعبدالرحمن زوی او د نګرهـار دکامی دی، عبدالرحمن په فقیر صاحب مشهور ، او لوی عارف

تېرشویدی، مرادعلی صاحب‌زاده د۱۲۳۵هجری کال په حدودو کښی په کامه کښی سکونت اختیار کړی اود۱۲۲۰ هجری کال په شاوخوا کښی زوکړی، مروجه علوم ئی تحصیل کړی اوپه دینی علومو کښی دلوی لاس خاوند ؤ، مولفات یی دادی :

«ارثیه، تراثیه» دا دوه کتاب ئی د میراث په علم کښی لیکلیدی چه‌متن اوشرح یودبل‌دی په‌عروضو کښی‌ئی یوه‌منظومه رساله کښلی، صلواتیه، دده یوبل اثردی چه دلمانځه احکام یی پکښی بیان کړی، اوپه‌پښتو اوپارسی‌اشعارو کښی‌ئی‌هم‌دلمانځه اداب ښودلی چه اثرئی چاپ شویدی .

٤ - دابتدایی تعلیم‌نوی لاره اودعربی ژبی د صرفو‌یواسانه صرفمیر غوندی کتاب یی په‌پښتو لیکلیدی .

٥ - دپښتو ډول ډول خطبی اوموعظی‌یی‌په‌یوه رساله کښی ټولی کړی چاپ شوی‌هم دی .

٦ - پښتو تفسیر یسیر، چه دده له معروفو مو لفاتو څخه‌دی داکتاب ده په ۱۲۸۲ه کال لیکلی او په ۱۳۲٤ هجری کال چاپ شویدی، داتفسیر یی په‌ټوله پښتونخوا کښی مشهور اودا لومړی‌ـ پلاده‌چه‌دټول‌قرآن‌تفسیرده‌په‌روانه‌اوساده‌پښتو کښلیدی .

صاحب زاده صاحب په‌پښتو، پارسی اوعربی اشعارویلی د کلام نمونه یی لاندی را غلیده :

څوك‌چه زهردر له‌درکا، ورکوه ته ورله شات
او که‌ځان لسانه پری کا،ته بیاشه ور ته مرآت
او که تاکادی محروم، ورکوه ته ورله زیات
دادټښو خویونو سردی، ته به‌مومی پری‌نجات

☆ ☆ ☆

په باطن‌اوسه آشنا اوپه‌ظاهر کښی بیگانه‌شه
په ښکاره اوسه خالی، او پکښی ډکه پیمانه‌شه
داعجب روش‌دی ورورہ، که پوهیږی تل پردرومه
په ظاهر دانه دمیو ، په باطن کښی در دانه شه

☆ ☆ ☆

نورالدین: دپښتورپه‌شاوخوا کښی‌اوسیدی‌اودامیردوست‌محمدخان په‌زمانه کښی ئی ژوندکاوه نورالدین‌دملی شاعرانو په‌ډله کښی مشهور او په چار بیتو کښی لومړی‌ـ درجه شاعر دی نورالدین دچاربیتو استاذ بولی ،اوپدې کښی مبالغه نشته ځکه دده‌شعری اقتدار مسلم‌دی .

ده دچاربیتو موضوع ته وسعت ورکړی او ډېری جنګی ، حماسی او تاریخی چاربیتی یی هم ویلیدی ، دی په فصاحت او بلاغت کښی‌یواځنی پښتون‌شاعردی چه‌اشعاریی د هرچاخوښېږی اواشعاریی په‌شفاهی اوخطی‌دود ،هرځای پیداکېږی، دارمستتر دنور الدین ډېری چاربیتی ټولی کړیدی چه د یوی چار بیتی لومړی‌ـ بند یی دادی :

ما و لیده یار انو د لیلی په سپین جبین
خا لو نه دړې څلو ر
خوری‌دی‌شولی کوکی‌دښایست‌په‌سوات ، بنیر
ر نخور دی کړم بلبلی
همیش گرزی بلبلی هار له‌غاړی دی چاپیر
سری‌نوکی ،سری منگولی
محل کښی دی ولاړه گو ره ونه دتمبر
تا زه یی دی غنډ لی
له‌پښو ترسره پوری ستا صورت دی نازنین
جو ړه دی نشته نور

نیازمحمد : دباجوړ دجارپه‌کلی کښی‌اوسپدی په نیازی‌سره مشهور اوپه‌کام سالارزی ؤ ده په ملی‌لهجه ښه اشعار ویلیدی چه دیوی سندری، مطلع یی داده :

سره گلونه همیشه دربانده سوال‌کا لیلی
چه اخرئی درنه پورحسن ، جمال کالیلی

گوجر : په‌کام ترکانی اودجندول د (میارو)دعلاقی یوشاعر دی، په‌ملی لهجه‌یی ښه پاخه اشعار ویلی، دعشق او مینی په‌اور سوی اواشعاریی جذاب‌دی، گوجر د۱۳پېړی‌ـ له ښو شاعرانو څخه ګڼل شوی دیوی‌سندری په‌اخر کښی داسی وائی :

قربان دی دخبروشم، لوگی‌ردی دسندرو شم
گوجره ته به مړ شی
شعر به چا تـه و ر لـه غـا ړی شـی
لالوی به‌درنه لاړه شی

محمدولی : په‌کام ماموند دی، اودکونړ په (مروره) کښی د(۱۳۰۰هجری) کال په حدودو کښی وفات شو یدی .وایی چه محمد ولی دښی روانی طبعی خاوند ؤ، اوپه ملی لهجه یی ښه اشعار ،اوزوروری‌چاربیتی‌ویلیدی ،دی‌تر۱۲۳۰هجری ورو سته زېږیدلی اوتر ۱۰۹۵ هجری پوری‌ئی‌ژوند مسلم‌دی، د سوات صاحب‌مرید او هغه‌مبارك دحالانو‌په‌باب کښی‌ئی‌یوه‌مثنوی‌ویلیده چه‌دوه‌زره بیته ده، اودغه یواثریی موجود ، دی‌نور اشعار یی تراوسه ندی‌لیدل شوی، دی دیوی غزا داسی بیان کوی:

په و سلو سره ؤ پر په ښه د ستو ر
الول باندی ها خـو ری زلفی د جو ر
تېری توری یی په ملا کښی الوښزا ندی
چقما قی ټو پك یی‌پاس په اوزو باندی
کمربند سره وی ملاوی ، ددوی تړلی
او سر پ ستر گی‌یی په و ینو وی لړلی
په دب دب سره را غلی ؤ د و ی مست
د د ښمن پر تو گاښ شو ور ته سست

په غو ته کـی ؤ چالا کـه لـکه بـاز
تری مرغی غوندی دښمن کاوه پر واز
چه یی چـیغه د ښمن واو رېده په غوږ
غور زاوه به یی له خولی نه ور ته زږ
سپینی توری گـویا رڼځ وه له اسمانه
سور بار ان لحیـنی د وینـو ، ؤ روانه

☆ ☆ ☆

حضرت علی : داسمار په‌خان معروف اوپه خټه ترکانې دی دی‌د(۱۳پیړۍ) دښو شاعرانو له ډلی‌څخه حسابېږی ، په ملی لهجه سره‌یی خورا خوږی چاربیتی ویلیدی ، د یوې چار بیتی یوبندیی د کلام دنمونې په ډول لاندی ولیکل شو :

خیر ددیدن راکړه مسافر دبل وطن یمه
در کښی دی‌ولاړیم که‌دی سپی‌لحمانه کړی کړې
ستاپه‌مینه مست‌یم لکه څوك چه‌شراب نوش که
نه لحمه له تـا نه ما دو هی در ته و هـلی ده
دعشق په‌بندوبست یم‌لکه‌اوی دریاب چه جوش‌کا
داد ، دنیا خو نه می په تا باندی سپز لی ده
سرومال په قصدیم ، ستادیدن به می بیهوش کا
یی د محبته می درون سینه مینځلی ده
پروت در سره یوځای په‌نالی‌ر او په ېرستن یمه
خیږد دیدن راکـه مسـا فر د بل و طـن یمه
پام‌کوه میزو به ، ته دچا په زور خبری کړې
ور کښی دی ولاړیم که‌دی سپی‌لحمانه کړی کړې

صفت‌خان : په‌کام دولت زی او دننگرهار د چپرهار درود دی، دی‌دپښتو یوملی شاعردی او په‌ملی لهجه او اژادو اوزانو یی‌اشعار ویلیدې ،اشعار یی په‌شفاهی‌ډول‌دخلقو یاددی، صفت‌خان د(۵۷) کلو په عمر وفات شویدی . دژوند دوره یی‌له (۱۲۵۰ هجری)کال راپدېخوا گنی،دده‌د کلام‌نمونه داده :

لکه زانه چه دسیل نه کنا ره شی
په نارو گرزی اوتره په هرلوری
په‌نارو به‌شی که‌بیل‌شوی له خپلوانو
خپل‌پردوته لگوه د ستر گو توری

☆ ☆ ☆

علم ښه دی چه صفت دکر دگار دی
امی‌توب په حقیقت کښی لهونتوب دی
دکمال په گانه څان ښه ښایسته کړه
په‌دنیا کښی څه بی علمه سړیتوب دی

میرهزار : دچپرهار په (کنډی‌باغ) کښی‌اوسیده ، دی‌دملی شاعرانو په‌ډله کښی دخوږو اشعارو خاوند گڼل شویدی ، دده وفات د۱۳۰۰هجری‌کال په حدودو کښی‌بولی چه‌د٤٥ کلو په‌عمر مړشویدی نودزوکړی کال‌یی له ۱۲۵۵ هجری‌راپدیخوا بولی دکلام نمونه‌یی‌داده :

لیلی مخ‌دی اسمان دی ستاری دی‌شنه خالونه
سورتیك دی‌لکه نمر
اوربل لکه وریځ دنمر د پاسه غر ونه غرونه
تیا ره شوه سر ا سر

☆ ☆ ☆

لیلی مخ‌دی اسمان دی، نری‌ور وڅی دی هلال
غابنونه دی زلی‌ر
برښنا دی د‌ېږوان عاشق ته وښوده شین خال
په سر د ی سلا لی‌ر
که د ر به شی بېګا له چه خپه نـکړ ې د لال
ته وا و ره و ربلی‌ر
داستا له لاسه بـار دی په مابانديې ډېر غمو نه
عـالم شو تو ل خبر

☆ ☆ ☆

خانمیر : دچپرهار درود ، په (غزو) کلی کښی ز ېږیدلی په کام مومند ؤ ،دده‌اشعار له‌ملی اوپښتو نولی جذباتو څخه ډك دی ،دده دیوې چاربیتی دسردوه بیته دادی :

په‌چپ کښی‌ډال په‌ښی خنجر نیسمه لوری د خصم برا بر نیسمه
یابه له‌صدقه خپل وطن شی زما یابه په‌سرو،وینو کفن‌شی‌زما

باره‌خان : یوملی شاعر، اودچپرهارپه رود کښی او سېدی اشعار یې خوازه اوپه ولسی لـهجه برابـر ؤ د ۱۳۰۰ هجری په‌شاوخوا کښی ئی ژوند کاؤ ،دی پخپله ناخوانی‌ر باندی داسی افسوس‌څرگـندوی :

کاشکی وړوکـتوب په‌ما یوځل راغلی وای
ماخولـښ اوډېر پـه‌خپل عمر و یـلی وای

خدای‌دوست : هـم‌دچپرهار پـه شاداب رود ،د(گوداړې) په‌کلی کـښی اوسیده ، اوهوری هم زو کړیدی ده خوراجذابې چاربیتی اوعشقی غـزلی‌ویلیدی، کـه‌څه هـم ناخوانه سړی ؤ مگرښه طبـع ئی‌دراوده دکـلام نمونه یی ولولی:

چه‌دې په خال باندی چاېر شومه
آخر دزلفو په دام دې گـیر شومه
څنگه به‌خلاص له دغسی بنده شمه
ستا دزلفـانو لـه کـنده شمـه

دیار په مخ چه شاعقان وی کـنه
هغه بیدو وزی مـر غان دی کـنه
گوری دانه دغومره پـام نه لری
پروا دلومی اود ، دام نـه لـری
لوزه اومینه خوراوورووردی سره
دواړه لوی‌شوی په‌یو کوردی‌سره
په‌جوړو ستر گو نابینا گړی سړی
په نیم‌ساعت کښی پو پنا گړی سړی
چه‌می‌ددام لانـدې دانـې خوړلی
دخـلقو پټـی خـزا نـې خوړلې
پریدی، چه ښه‌پسی بی خو نده شمه
ستا دزلفانو لـه کـمنـده شمـه

گـل‌محمد: په‌کام خربون‌دی‌اودخو گیانوپه(سرما) کښی ئی دامیرشیرعلیخان په‌زمانه کښی‌یی‌ژوند درلود گل محمد ډیری‌ملی غزلی‌اوچاربیتی ویلیدی چه‌په شفاهی اشعارو کښی شهرت لری دکـلام نمونه‌یې داده :

داستاتیك‌دی‌امیرپیزوان وزیر په لبو سور
شین‌خال‌دی، سالار پلتنی اخلی اوس‌په‌زور

☆ ☆ ☆

دستاتیك‌دی امیرپیزوان وزیر په لبو سور
سیقل‌دی‌په‌زر گر، گړشنه‌غمی‌دی‌لکه‌ستوری
چار گـل‌دی‌شاغاسی‌دی‌خلقی چه‌ورته گوری
رونق لری‌بی‌شکه دسینې‌باغ دی سمسور
داستاتیك دی ...

بهره‌مند :دخو گـیانو په(بربیار) کښی زیږیدلی اواشعارې په‌خلقو کښی مشهوردی ،خینی‌قصیی هـم نظم کـړیدی په‌ملی شاعرانو کښی ښه‌درجه‌لری ، دکـلام نمونه یی‌داده :

**سوال‌اوځواب:توری‌ستر گې تور اوربل په‌مخ راغله گل نگاره**
عالمونه به‌گړی ستې سمه نه درومی خونکاره
توری‌ستر گی‌شین‌دی‌خال‌رابښکاره که‌په‌ابرو کش
دسروتیك کـه سنبال دجبین په‌کـټارو کښی
پسر گړیدی دی شال قدم اخلی په ورو ،ورو کښی
یوه گړی‌سر گـړه مدارپه او ردی وسوم رب دپـاره

درمحمد لخاځی : تقریبا د(۱۲۹۰ هـ جری) کـال به‌حدودو کښی ئی ژوندکاوه، یوعالم‌سړی‌وه، اشعاریې جوړول او وروسته دی حدته ورسیده چه‌خوراپخی سندری اوچاربیتی به یی ویلی
دکلام‌نمونه‌یی ولولئی :

دالونگین‌په‌سینه‌وړی لکه‌غنچه‌سو،چه، سینه باغچه‌دچانصیب نیولی
ثانی‌یی‌نشته تمامی صورت‌یی گل،سنبل، گوره چار گل، دنجل سری‌ئی منگولې
چه‌مازدیگر په گودروو‌ینم سورشال ،سنبال، مکوه خیال جنجال مستی لیلی
لاس‌می‌درپرښده دروییو په قطار . یووار خال په‌رخسار دیار په‌جبین‌سور

ملاعبدالزاهد: په‌ملازاهدسره مشهورۀ دی‌په‌کام ابراهیم زی اندر اواصلا دزرملی‌دخلی اوسیدونکی ۀ، یو ورورپی مشهور قاضی‌عبدالکریم‌خان‌دی چه‌خورا زبردست عالم اود امیرحبیب‌الله په‌زمانه کښی دمیزان التحقیقات رکنۀ ، ملازاهد دطالب‌العلمی په‌زمانه کښی داکرم‌خان توغچی په لورچه (بی‌بی‌حوا ) نومیده عاشق شو، اوآخرپی عشق حقیقت‌ته ورسیده کام‌یی را ټول شو اوغوښتل‌یی چه‌داکرم‌خان‌لوره‌ده ته‌په‌زورسره راوړی اماپخپله ملازاهددقرآن په‌شفیع کولو سره‌خپل کام‌منع کړ، اوهرسړی ته به‌یی‌ویـل «دابه‌راځخه خپه‌شی» تاسی زور پرښـځی‌ ورو سته له‌خپلی‌معشوقی‌څخه هم‌بی‌نیازه شو اوداشعاروپه ویلو بی‌شروع وکړه ،دونه‌چاربیتی اوغزلونه یی‌ویلیدی که ټول سره راټول کړل‌شی په‌دوه‌جلده کښی‌هم نه‌ځائیږی ، بی بی حواهم ترآخره پوری‌بی‌مېړه کښېنسته اودپلار په کورزړه شوه ، دزاهد دخورا جذابو اواستاذانه چاربیتو شهرت په ټوله پښتونخوا کښی خور اوپه‌مغربی ولایت کښی دزیات شهرت خاوند دی
دملاعبدالزاهد دکلام‌نمونه : په نعت کښی .

نن‌شپه‌می بیا په‌خوب‌لیدلی‌ددلبر بشر ،لولاك‌پسردلمر په‌شان‌ځلیږی

☆ ☆ ☆

داستا له‌رویه‌خدای پیداکړه دادنیا، سما، مخ ئی رڼا ، بربښنا درئی دندانه
دی‌په‌باطن کښی اولین‌دی‌ترهرچاپیدا،نه‌ووبابا ، حوابی‌له‌سبحانه عمل‌می‌نشنه هیمشه‌یم پرحذرخطر،لولاك‌پسردلمر په‌شان‌ځلیږی

☆ ☆ ☆

قول‌یی‌داسی‌خوندکوی زیب‌لکه،حلیب، زه عندلیب، غریب شومه بیماره
زه‌خوار په‌تمه که‌می‌ځان ته‌کړی قریب ، حبیب، هم دی خطیب مطیب دکردگـاره
هم‌خوارو زاریم چه په‌مخ کښی می‌سفر ،محشر ،لولاك پسر دلمر په شان‌ځلیږی

☆ ☆ ☆

(زاهده)راشه‌توبه گـارشه‌په‌اخلاص،ته‌خاص،دور کړه‌وسواس،خناس له خیل وجوده
دامجازی‌مینه‌دی‌ټوله‌ده‌لباس،قیاس‌ډوکړه‌هراس ...
له‌خیل‌معبوده
له‌ډیره عشقه‌می کړ جوړ دعشق دفتر ، بهتر لولاك په‌سر دلمرپه شان ځلیږی

بله چاربیته:

کـله به‌راوړی دواړه لب شکرترین ، شرین ، زنه گـبین ،
دسین پشان ځلېږی

☆ ☆ ☆

کـله به‌راوړی دواړه لب‌شات ومرهم ،صنم، مکړه ستم ، هردم
په غضب ښوری
سرې‌دی منگولی همیش وړی زړونه قلم قلم ، اخلی قدم، پرچم
ستر گی دی توری
په‌در،دې‌پروت‌یم‌همیش‌غواړم‌ستاکرم،محکم، دورمی کړه‌غم‌یودم ،
که رب ته گوری
تل‌دی په‌غاړه باندی زانگی لونگین، سنگین ، ز نه گبین
د سین پشان ځلېږی

بله‌چاربیته :

چه‌دیارمخ‌می‌لیدلیدی ،هیڅ‌طاقت‌می‌نشی‌دعشق‌اور، رالگېدلی دی
نه می کـېږی توانه

☆ ☆ ☆

عشق‌غوته ده د دریاب څوك‌درځنی وکازی ، دچاشی عمر خرابه
نه‌می مینده خونده
ځی‌له‌ستر گوه‌ې‌خونابه، گرزم،ایونی کچکول‌ترځنگ‌سینه کـبابه
نه شوه را پسنده
عشق تردی‌اندەښاغلیدی داغریب«زاهد» یی‌دهجران‌په‌تیـغ گـټلی
ربه‌ته‌نشی مهربانه

وائی چه ملازاهد ، دځلی دوالی پغاړه یوه کوچنی‌ژرنده‌جوړه کړ یوه شگی به ئی تری ایستلی اوخپلی چار بیتی به‌ئی ویلی حیات اکا نومی سړی یوه ورځ دده هغه اوبه چه خپله ژرنـده به‌ئی‌پری‌گرزوله را وتړلی ، هغه ورځ دځلی کـاریزونړېدی‌او اوبه وچی‌شوی ، بیائی زاهد ته عذر وکړ ،دده په د عا کاریز بیا جاری شو ، عبدالزاهد د ۱۳۲۰هجری په حدود کښی وفات شو اوهوری په‌څله کښی مدفون شو .

توکل : ددیارسمی‌پړی دوروستی‌برخی له‌مشهورو ملی‌شاعرانو څخه دی کورئی په شیوه کښی اوپه کام صافی دی ، لومـړی یی‌بزگری کوله،اوبیائی‌شعرجاری‌شو،توکل‌دشاعری‌سره‌باغ کښی داسی‌خوزی‌خوزی نغمی ږ غولیدی چه دننگرهار ولایـت ئی په خورابنه نامه سره یادوی ، دی لکه د سحر نسیم په باغـو او گلانو گرزیده او چاربیتی او غزلی‌به‌ئی ویلی‌توکل په ملی او ۇ لسی ادب کښی هنسی دشهرت خاوند دی لـکه‌عبدالـرحمـن مهمند اوحمید ماشو خیل چه پکلا سیکی ادب کښی معروف دی ، دتوکل داشعار وزیاته برخه سپری بدلی‌دی ، اوچاربیتی ئی دومره ډیری نه دی ویلی ،دده‌سندری‌یومخصوص آهنـگ لری چه خورا جذابی او ارو‌بد ونکی په شور راولی ، او دا ځکه چه دتوکل په کلام کښی دعشق او درد جذبه خورا قوی او زوروره ده ، اوپدی خاصه کښی دده شعر درحمان‌بابا کلام ته ورته دی دا د سبک او ښونځی خاوند په سپروبدلو کښی استاذ دمطلق دی ، او تراوسه پوری‌شاعران دده پیروی کوی د کلام نمونه یی داده :

شالیلی په‌تو را ورېل ایښې گلونه
اوس روانه دء په سیل کو ی سیـلو نه
وای‌شالیلی
نری‌سوروځی‌دی‌لیندې‌بانه‌دی‌غشی
توری زلفی دی پر مخ وهی تالونه
وای شالیلی
بال وپری‌می دهجران په‌لمبووسو
چاته نه وایم دسوی زړ کی حالونه
وای‌شالیلی
«توکل» دی تل صفت د خال و خط کا
سپین دندان دی مرواری شوندان‌لالونه
وای‌شالیلی

☆ ☆ ☆

په گلش کښی دبلبلو شور ما شور دی
غمازان چه غمازی کا مخ‌ئی توردی
د هغو څراغ بل نه‌دی ترسحره
چاچه کړی په عاشقو ظلم و زوردی
مابه بندکړی د وصال په منټرونو
سور پېزوان دی‌اوده‌دارپه‌شوندو سوردی
درسته شپه انوار ، اوریږی ترسحره
دسهار دوخت‌رحمت گوره لانردی
ددنیا له عیشه وتی سراسر دی
چه‌بل شوی د هغو په‌زړو کښی‌اوردی
سردی نه‌پورته کوی دغم له تاله
«توکله» نن دی څه کا نپی په کوردی
نن له‌خیاله دی ز نگیږی زلفان ورو
پاس په‌شوندو دی پرکیږی پېزوان‌ورو
زاهدان چه‌زاهدی کړی گوښه کښینی
خو ځوی هردم په ذ کر زبان ورو
د خشخاش په‌شان می زړه زری‌زری شو
له نقابه را بیرون کړه چشمان‌ورو
دچمن بلبلی راغلی باغ یی‌لوټ کړو
په فراق دکلو ژاړی باغوان ورو
نن دی لاس‌وربا‌ندی بردی توکله
درود پری وایه‌پرحلال کړه‌شیطان ورو

ACKU

میرا : میرا دتوکل معاصر اوخپل ځان ئی دتوکل وزیر ، او توکل ئی پاچا بللی دی ، میرا په‌کام‌اپریدی کوکی‌خیل او په (سپینه ډیری) کښی‌اوسیدی ، ده‌په‌موسیقی‌اوملی آهنګو کښی مهارت لاره ، ساز اوسرود به‌ئی کاؤ ' خپل غزلونه به ئی په بیل بیل آهنګونو جوړول ، نو دی دپښتو په ملی سندرو او د هغو په آهنګونو کښی مخترع او دامتیاز خاوند دی ، دمیرا خوازه اشعار ، اوملی آهنګونه په ټوله پښتو نخوا کښی‌مشهور دی ، دی په (۱۳۰۰) هجری ۱۸۸۵ع» کښی لا ژوندی ؤ ، دمیرامورد‌خپلیلو دتپی وه ، میرا سوادنه درلود، مګر په‌موسیقی کښی دداسی قوی خاوند ؤ ، چه‌هر نوی خیال به‌ئی‌سمدستی د آواز په قالب کښی سم اوآهنګ به‌ئی ورته پیدا کړ

دده دکلام نمونه :

عاشق سوالګیردی له‌خپله یاره
په‌دردی پروت یم سینه افګاره
خیرله ورتلمه هرځه مې هېر شو
امساپه لاس سپی راچار پېر شو
په لاس رانه غلی دزلفو تاره
عاشق سوالګیر دی له‌خپله یاره
په دردی پروت یم سینه افګاره
شمعه بلېږی ځان کړه پتنګ
مخا مخ ور شه مکړه تری ځنګ
تری را جلا کړه د ګلو ها ره
عاشق سوالګیر دی‌له خپله‌یاره

☆ ☆ ☆

میرا فریاد کړی‌پروت‌دی رنځور
پری مقرر شو د غم نا سو ر
طبیبه زر شه و کړه تلو ا ر ه
عاشق سوالګیر دی له خپله یاره
په دردی پروت یم سینه افګا ره

سیدکمال : دکونړدشکی‌ردی ، سید کمال یوطالب‌العلم‌او په(ببوجانه) نومی نجلۍ باندی مینۀ هر کله چه‌وصال په‌لاس نه‌ورغی نو ټول عمرئی په‌ژړا ، اوآه کښی تېرشو، ده ببوجانی دپاک‌عشق په‌هوا کښی خوراخوازه اوله‌سوزه‌ډک اشعار ویلیدی، کمال دببوجانی په‌مینه کښی لیونی اوبی ددی له‌نامه شخه‌ئی‌بل، هیڅ پخوله نه‌راتلو ، دده‌بدلی په‌خلقو کښی‌ډېر شهرت لری او یووړو کی دیوان (دګلشن عشاق )په نوم سید کمال ته منسوب لیدل شویدی ،مګرده دملی لهجی اووزن عزلی اوچاربیتی‌په شفاهی‌ډول‌موجودی‌دی اوتدوین‌شوی نه‌دی،سید کمال هغسی چه دتوکل هموطن‌دی دشعر په‌ساحه کښی‌هم‌دوازه دیوه سبک‌پیروی کوی، سید کمال تقریبا اتیاکاله تردې پخوا تېر شو یدی ، خو دابایدووایو چه‌د (ګلشن عشاق) اشعار دسید‌کمال د اشعارو له سو یې څخه خو را ټیټ دی او داګمان نکښږی چه هغه به دسید کمال وی، په‌هرحال دده‌دکلام نمونه داده :

څه‌دی‌غرض دی ملاځما دحاله‌سره
ورځه سبق‌دی‌ضوطوه له‌قیل‌وقاله‌سره
څه دی غر ض دی ملا ....

سید کمال داغزل‌ټول دمعشوقی له‌خوا ویلی‌دی لکه دابیت:

زه ببوجانه سوال‌کوم که مونصیب شی سره
دا شین دو زخ زه قبلو م له سید کماله سره

☆ ☆ ☆

دده یوبل غزل :

غم دببو جانی لیونی لکه مجنون کړمه
نور به څه ژوندون کړ مه
هی توبا دعشقه شه
ګیرشوم نه‌خلاصېږم ستادمېنی ببو ګلی زه
ستا آواز به کله په غوږو اروم بلبلی‌زه
ستامینی بلبلی زه‌اخته په‌ځګر خون کړمه
نور به څه ژو ندون کړ مه
هی تو به د عشقه شه
بی ګناه می‌څله دغماز په خوله رتی ببو
ما دخپله دره دا په کوم سبب ترتی ببو
زه‌دی سپک‌وړی‌ دغمازانو په‌لمسون کړمه
نور به څه ژو ندون کړمه
هی تو به د عشقه شه

واخله(سید کماله) ګند، کجکول‌د ګدائی‌په‌لاس
ګرزه درپه‌در امسا کوتک دجدائی په‌لاس
غم‌دببوجانی ژوندی ډوب لکه قارون کړمه
نور به څه ژوندون کړ مه
هی تو به د عشقه شه

☆ ☆ ☆

ملامیران : د قندهار په‌اطرافو کښی‌د۱۳ پیړی‌ په شاوخوا کښی‌ئی ژوند درلود ،دی‌داشعارو‌یودیوان‌هم‌لری چه ډېر کم‌پیدا کېږی ،دملامیران نورحال‌موږته‌ندی‌معلوم دکلام نمونه‌ئی‌داده:

نن می‌رنځ د بېلتانه دی چه کړ ېږم نه رغېږم
که‌وصال‌را باندی‌راشی د غنچو په‌شان غوړېږم
دلیلی‌سینه باغچه‌ده رنګارنګ ګلان پر ی زانګی
زه بلبل د صبحدم یم د هر ګل په مخ پر ېږ م
دتهمت په خم کښی رنګ شوم پاک به‌نه‌شم لکه‌زاغ
دصیقل طبیب رابولیء په‌رنګ ورځ‌په‌ورځ ژیړېږم

کمال : په‌کام نورزی د ی او دقندهار په (دروشان) کښی په‌ئی استوګنه کوله، دی په کمال بابا مشهور اوپه ملی لهجه ئی ښی‌سندری ویلیدی، دی‌هم دعشق په‌اور سوی او په کلام کښی‌ئی سوز او ګداز ممزوج دی ، درد مند زړه لری او د کلام نمونه ئی داده :

اثری مینه می ښکاره شوه په بدن کښی ناری وهم
د زړه آشنا را پاته نشو په وطن کښی ناری وهم

☆ ☆ ☆

اثری مینه می‌ښکاره شوه ربابونه وهم
زه ګنګار نه یم دا رنګه سرودونه وهم
چه په‌شهباز سره‌ئی لخای په‌لخای تارونه وهم
ستادمحبته می‌تارونه په ګفتن کښی ناری‌وهم

☆ ☆ ☆

داستامینه چه ښکاره‌شوه نو خو شحاله شمه
ته په لیمو می قدم کښږده چه پا یماله شمه
ګوندی داستا په‌روی زه‌خلاص له‌دې جنجاله‌شمه
ګوندی داستاپه‌روی ابله‌شم په ګلشن کښی ناری وهمه

نوروز : دپښتو په (کالوخیلو) کښی زپښیدلی‌دی اوهوری هم‌لوی‌شوی، ده‌دامیر حبیب‌الله خان په‌زمانه کښی ژوند کاو، یو پوه او لوستی شاعر دی ، هرکله چه دی طبعا شاعر ؤ ، اوبی تکلفه به‌ئی اشعار ویل نو خورا ډیر اشعار تري پاته‌شویدی، دنوروز اشعار په‌خلقو کښی ډیر شهرت لری، اوپه‌شفاهی ډول دهرچا یاددی ،یولوی‌کار چه‌ده کړی هغه‌دادی چه نوروز دپښتو غزلونه دهندی مقاماتو به سرو تال برابر جوړ کړ ی ، اود هرراګ په مطابق ئی غز ل جوړ کړ ی اوده په دغه‌کوشش دپښتو اشعار دموسیقی په ساحه کښی ور ګډ شوی او زمینه ئی‌ارته شویده دده‌دسبك په پښتنو کښې ډیر پیر وان پیدا شول‌چه هغوی پس له‌ده په نویو ، نویو زمینو کښی دپښتو غزلی جوړی کړیدی ، لکه ترکانې فضل رحمان ، محمد د ین ، رمضان، سلطان او داسی نور ، خوتر هغه‌مهاله پوری چه تر نوروز پخوا کوم‌بل داسی شاعر پیدا نکړو ،نودی‌پخیله دپښتو دتغزل استاذ دی ، کله‌ده شعرله مو سیقی اودنغا له‌حرکاتوسره برابر کړی اوسره خلط کړیئی‌دی .

نوروز ، د(بهار نوروزی کلان) او(بهار نوروزی خورد ) په‌نامه دوه‌دیوانه‌لری چه‌په‌لږه‌موده کښی ځوواری‌چاپ‌شویدی، دده په دیوانو کښی دده د پیر وانو اشعار هم مو جود دی دده د کلام نمونه :

په‌ژړا په‌سترګو سرویم ، همیش ګډ په نارو یم
سود می‌نشته بی له‌تانه بندیوانه جانانه
چه‌را یادمی‌دی بشرشی هغه‌دم می‌غوڅ لخګرشی
آه می‌خیبزی له دهانه بندیوانه جانانه
چارچاپیر لمانه غم‌شه ټول جهان په ماتورتم شه
ای‌لخما ماه تابانه بند یوانه جانانه
زه‌په طمع د و صال یم څه خبر له داسی حال‌یم
بهلتون جلاکړم له‌تانه ،بندیوانه‌جانانه
سخت ساعت‌له تاجداکړم ،زه‌نوروز په واویلاکړم
ګل بدن ،غنچه‌دهانه ،بندیوانه ، جانانه

☆ ☆ ☆

محمددین : دا شاعر هم دپښتو له‌خورا مشهورو شاعرانو څخه دی، او دپښور په (نو بنارکښی) اوسیدی دده غزلی او چاربیتی خورا مشهو ری اوپه شفاهی‌دول دپښتنو په سینو کښی محفو ظ د ی محمد د ین ، د نـو ر وز د مـلـګر و په ډ له کښی درپدو قابلیت لری ، او په بهار نو رو ز ی کښی‌دده ډیری غزلی‌چاپ شوی‌هم‌دی، اشعارئی عشقی اویوبزمی شاعرؤ چه‌ډیرشا ګردان‌ئی‌لرل‌دی‌لخینی‌چاربیتی‌لری ،چه‌لخنځیری چاربیتی یی‌بولی ،اشعارئی دقافیو مخزن ګـنـل شوی دیوه‌غزل مطلـع ئی‌داده :

سپین مخ دی کـلزار دی زړه می نـا قـرار دی
ستـا زلـفی سمسور دی سړې‌لـمبی راپوری دی

دمحمددین دچاربیتو یوه نمونه لاندی د لولی :

دښایست آوازدی تللی په عالم کښی لورپه لور
زه‌دی وسومه په‌اور ، تیك‌دی کوزکه له جبینه
دښایست‌آوازدی تللی په کـابل په هندو ستان
لخـکه ناست‌یمه حیران را رسـبـزه خپل نصیبه
عاشقی‌ده ډیره ګرانه لخی له سترګو می بـاران
چه‌پرې لونی‌می‌شو ګرځـان‌پوه‌ئی نشوم په‌ترتیبه
په‌هـر چاباندی تپرښـزی دفانـی دنیا دوران
څوك رالخی څوك‌تری‌روان‌کاندی یاروته قریبه
باری‌خپل دی که پردی‌دی را کوی ماله پیغور
سترګی‌نه‌شم نیوی نور ګوره ډوب‌یم ستا په‌مینه

☆ ☆ ☆

شهنواز : د ۱۳۰۰ هجری د حدودو شاعر اوپه منځنـی طبقه کښی‌حسابیزی، دی‌درحمان دسبك‌پیروی کوی په«بهار نوروزی» کښی‌دده څواشعار، راغلیدی ،دکلام نمونه‌یې داده :

هرچه زړه‌ی ناقراروی څه به خوب کا
ډوب په غمچه دیاروی څه به خوب کا
ددښـدن په انتظار شی ستر ګـی سپینی
منتظر چه ددیدار وی څه بـه خوب کا
څوك آرام دیوه داغ لـه سوزه نـکړی
چه داغونه یی هزار شی څه به خوب کا
خوب خندادی بی دردان کا شهنـوازه
هرچه‌تاغوندی افګاروی څه به خوب کا

شاه‌پسند: دی‌دنوښار اوپه بهار نوروزی کښی دده څو غزلی

راغلیدی دبدلوشاعر اودنوروز ښونځی ته منسوب دی د (۱۳) پیړۍ څخه راپدېخوا وفات‌شویدی دکلام نمونه یی داده :

نن خمار زړ گیه ولی خطری کړی
راپه یاد، دی دکوم و خت شجری کړې
عمر واړه دی شه تېرنه شوی خو شحاله
دآشنا غمونو لا ذری ، ذری کړې
په تېره چړه دیار دلاسه مړ شوې
دهجران په اور کښی لاخاوری اېر کړې
دآشنا زړ گی به نرم لکه موم کړی
(شاه پسنده) ته‌چه داسوی مسری کړې

صالح‌محمد : دده نه‌یوه لاندی بیت څخه‌داسی څرگندېږی

چه‌دننگرهار اودنورالدین معاصر دی ده د۱۳ پیړۍ یه‌شاوخوا کښی ژوند درلود، دکلام‌نمونه یی داده :

صالح محمد لخی دزړ گر و پشان تکروهی له نورالدین سره

☆ ☆ ☆

دده دیوی‌خوښی سندری کسر :

لیلی بانه‌دی دیشتر وپشان ډول دی‌زیات‌دی‌له‌رنگینه‌سره
سپینه سینه‌لری‌دزړو په‌شان مزه کوی د لونگینه سره

برخوردار: په‌کام‌ترین، دقندهار دپنجوائی‌ئی‌دپاشمول ؤ ،دی یوخوږژبی شاعر اوفقیرمشرب شاعر دی، دده عشقی اشعار په محیط کښی مشهور، اود۱۳پیړۍ‌سړی‌دی دکلام نمونه‌یی‌داده :

دیاردغمه‌می په‌زړه باندی پرهاردی‌وای
دلخان‌په‌وینو داسی‌رنگ‌لکه اناردی وای
دیار دغمه د ققنس ناری وهمه وای
ترخولی‌به وباسم‌شین دودلمبه به‌شمه وای

☆ ☆ ☆

خدایرحم: دکلات‌پهسیوی کښی دملیزودی، د ۱۳ پیړۍ په‌شاوخوا کښی‌ئی ژوندکاؤ عمرئی ټول دخوږو اشعاروپه ویلو کښی‌تیر کړی، اودامیرعبدالرحمن‌خان‌په‌اول‌وخت کښی مړشویدی دی دسیوی په غروکښی دفن دی ، اشعاریی عالی او نمونه یی داده :

خونخواری‌ستر گی‌دی‌نن بیاکوی دزړوښکارونه
زلفودی واچول پرغاړه د سپوږمی دامونه
پرصبحدم دباغ ولورته گذر و کړ جا نان
گلانو واغوستل له شرمه د غنچو سترونه
صنمه جور وجفا مکوه آزار به واخلی
تر پولادی غشوتېر دنیمو شیو آهونه

شاه‌افضل: دپښور د(چوکی‌دربو) اوسېدونکی‌ؤ ده داحمد آخون‌خیل دامیرحمزه نیمگړی قصه‌پای‌ته رسولی اوداقصه‌یی په(۱۲۸٦ه) کښی تمامه کړی اتیاکاله‌دمخه ژوندی‌ؤ ، دی‌دښتو دقیصولیکوال اودهرې‌قصی دلیکلو په‌پای کښی‌ئی‌یوشوخیل اشعارهم ضمیمه کړی اوچاپ شویدی: اشعاریی عشقی دی دکلام نمونه یی‌داده :

ماشاه افضل‌چه داکتاب په‌ترتیب وکښو
زړه می ډېرښه په خو شخطه خطراغب
په خندامی کړ وښکاره نو خطه یارته
ماوی خط به‌هسی رنگ وی عجائب
شونډی بیرته په نری خندا دناز کړی
هسی شان ځواب ئی را کړ مناسب
غوره خط دمهرویانو تر خط نشته
که‌هزار رنگ کتابونه ښکوی کاتب

عبدالودود : پکام ستریانیې اود۱۳پیړۍ‌په‌حدو دوکښی‌ئی دقندهار په‌ښار کښی ژوندرلود ،پښه‌ئی تجارت اماشاعر هم ؤ اشعاریی په ملی لهجه او په ۱۳۰۳ ه پښتورته ولاړ هوری مړشویدی ،دیوان‌یی‌درلود خوله وارثانو څخه یی تلف شویدی کلام‌یی‌ساده اماخوږدی دکلام نمونه یی داده :

زلفی‌دستەخوله‌دی پسته، لب‌دی شورونه کوی
چشمان ترکان بیرغ‌بسته ،ظلم و جبرونه کوی
مخ‌دی‌بوستان‌خط دی‌ریحان،دامشکی خال دی‌باغوان
شکر توطی دی دزبان ښه گفتارونه کوی
لکه فرهاد ،کوم فریاد، ، په دید دی نشومه ښاد
داشرین روح می نامراد ، کوچ له درونه کوی

شاه عالم: پکام گندپور، داسمعیل‌خان ددېری دی‌په گلشن نو روزکښی دده‌اشعار راغلی ، خودشعرا وزمانی په لحاظ را وروسته شاعردی دکلام نمونه یی :

هم‌می روح یی هم می‌روح وړې په یوآن
تعجب دی چه هم دردیی هم درمان
ملك دزړه می دکړوران په تیغ دظلم
لاپه دغه بی دادی کښی یی سلطان
په‌خوله مهر دسکوت کېښږده شا عالمه
پاته نشو خوك د شعر قدر دان

محمدایوب:دقندهاریوملی‌شاعراوپه‌ملی‌سبك‌یی‌ښه‌غزل‌وویلیدی

عمرئی‌په‌مسافری کښی تېرکړیدی‌دالاندی اشعاریی وگوری :

نن راته اور زمین اسمان دی فکرمی ستا دلاسه وران‌دی
خود به‌افسوس کړم چه‌پرتېرساعت ار مان دی
نن راته اور ...
نن‌می په زړه لمبی بلېږی دهجران اوردی را لگېږی
دستر گونور، دزړ گی سر می نه هېرېږی
نن می تر ستر گو ستر گو کېږی

شپه مـی کـړه تېـره اوس سهـا ر دی
پـه صـبحـد م بلـبـل بـهـدا ر دی
بهار شو تېر، او ورپسی ناورین خزان دی
نـــن را تـه اور ز مـین اسمـا ن دی

نورسیب : په کام درانی اودمشرقی د حصارك دی، په ملـی وزن ئی بنی غزلی ویلیدی، دده سپری بدلی، او چاربیتی په خپل محیط کښی خوراشهرت لری، لحینی منظو می قیصی یـی هـم دو گړیو یادی دی، دخپلو وروڼو له جفاځخه له وطنه تلی او نور ژوندون یی په بغداد کښی تېر کړیدی د کلام نمو نه یی داده :

خدای دپاره خپل کړم را باندی و که
چه می نکړی دغمازو په مخ سپکه
چه زما د زړه له حالـه خبر نه وی
خدایه وکی د هغو د زړونو کر که
چه ئی بخت وی په ازل کښی چیه شوی
په دنیا به دهغه علا ج څوك څه که ؤ
چه اشنا دچـا په آب وابرونـه وی
نو (صاحب) به داگیله له چانه و که ؟

یو بل غزل :

پلو کړه له مخه لری رب دپاره ستمگاړې
بنکا ره کړه ببـو ستر گـی خمـاړې
دالار د معشو قو کله وفـا کله جفا کړی
نـن هـغـه سبـا دا کړی
په زړه کښی دی ویشتلی یم خدنگی گل نگاری
بنکـا ره کړه ببو ستر گی خماری

☆ ☆ ☆

ملامیریحی : په کام پوپلزی دخاکریز یو مشهور عالم ؤ چه دشکوراخون په کلی کښی اوسیدئی ، اشعاریی خوازه او په قندهار کښی شهرت لری دیوان ئی دده شاگرد ورك کـړیدی د ۱۳ پېړی رادوی رئی ژوند کاؤ ، د کلام نمونه ئی داده :

تر زړگی می وینی دار شوی درب دپاره مرمه
دپېلتون په ملك ناړې شوی چه ځما یاره گل خمه
دواړو ستر گومی اماس نن دهجران له زوره وکی
دپرر نـځ اوس بیمـاری شوی دخدای د پاره مر مه
میریحی ته چه په یادشوې ستا چشمانی خړی بوری
داد وبرمـی تیـاری شوی دخدای دپاره مرمه

شیرمحمد : دقندار دپشت رود په سیمو کښی او سیده، دی دپښتو دیوان لری چه یوه خطی نسخه ئی دمطبوعاتو په کتابخانه کښی موجوده ده، اشعار ئی عشقی او اخلاقی دی ، دده د کـلام نمونه داده :

دازما دزړه آهودتن له دشته رب خبر چه کوم صیاد په الم یوؤړ

عنوان الدین کاکاخیل : په ایبټ آباد کښی اوسیدی، ښه شاعرؤ د ۱۳۰۰ هجری کال په حدودو کښی ئی دسوات جغرافیه منظومه کړیده، چه یوځو بیتونه ئی دادی :

را شـه وا وره دا بـیـان چه ټول سوات شی در عیان
سراسر پـړې گـر زېدلـی مـا پـخـپـله د ی لـیـد ی
د یـو سف د ی دا او لا د اکو زی بـانـدی شـی یـاد
یوه دره ده سـرا سـر سیند په منځ کښی برابر
په شمال تړې خوازوزی دی په جنوب تړې بـا بوزی دی
بـا بو زی ډېری تپـی دی سـرا سـر ه پـر تـې دی
را نـپـی زی دی پـه مغرب الـه ډنـد کښی دی غـالب
دغه ځـای دخـانی کوردی د کا جوداولادو رور دی ...

نظر محمد کاکړ : د ۱۳۰۰ هجری کال په حدود کښی ئی د قندهار په زنگی آباد کښی هستوگـنه درلوده، یو عالم سړی ؤ ده په پښتو او پارسی ژبو اشعار ویل او په دغو د واړو ژ بـو کښی ددیوانو خاوند دی د کلام نمونه یی داده :

زه یـو نـه یـم چه لـه غمه دربدرشوم
خلقی دی لـه دی غـمه تـار پتـا ر کړې

☆ ☆ ☆

که ته یودم دخپل حسن لمراظهار کړې
عـاشقان به دمنصور په دود په دار کړې
بی له یـا ره خندا کار د هلکا نـو
که ته خاندی په دنیا کښی ځان به خوار کړی

☆ ☆ ☆

غلام محمد پوپلزی : دپښور د (چارسدی) دی ، یو له دردنه ډك ضمیرئی درلود، خورا عالم سړی ؤده دمولانا حالی هندی معروف (مدوجزراسلام) نومی اثر په پښتو پشنوی ترجمه کړیدی ، دا کـتاب دمسلمانانو دترقی او تنزل بیان کوی، اوددوی دبیدارولو لپاره دپخوانو دمسلمانانو کار نامی یادوی ده د ترجمی په ابتدا کښی په پښتو یوه عالمانه تبصره هم لیکلی ده، او پدی اعتبار سره دی دنثر لیکونکو په ډله کښی هم حسابیږی ، دا کتاب په ۱۳۱۰ هجری کښی چاپ شویدی، غلام محمد تربیت په موضوع باندی دمولانا حالی یو بل کتاب هم په پښتو نظم ترجمه کړیدی، دا کـتاب خورا خوږ، او په ښه موضوع باندی لیکل شویدی ده دبالغانو (اکابرو) دخواننده کولو لپاره دپښتو ژبی یوه قاعده هم لیکلی ده چه نوم ئی (محمدی) قاعده ده، په شعر کښی روانه طبع لری، اودپښتو پروپښ پښتون اواجتماعی شاعر گـنهل کیږی دپښور داسلامی کالج په فهرست کښی راغلی، چه غلام محمد دؤړمړی ژبی یو کرامر هم لیکلیدی، دده دشعر نمونه داده :

ACKU

له بقراط حکیم نه و کړه چا پوښتنه
چه هو ښیاره د کامل عقل څښتنه
کوم یورنځ دی چه سړی پرې هلاکیږی
په دنیا کښی ئی دارونه پیداکیږی
وی ئی داسی ناجوړتیا په دنیا نشته
چه دارو ئی دغلاح نه پیدا کیږی
ناروغتیا وی که اسانه که مشکل دی
هرمرض له پیدا کړی خدای در ملدی
بی له هغه چه اسان ورته ښکار یږی
چه طبیعت ئی علاج وائی تری ئیږی
که درنځ نخښی سبب ورته څرګند کا
په خنداشی په طبیب پوری ریشخند کا
نه دارو خوری نه پروائی په پرهیزشی
په ورو ورو هغه کمزوری مرض تهزشی
دطبیب له نز دیکته ئی نفرت شی
تر هغه چه له دنیا ځینی رخصت شی
دغه حال به په دنیا دهغه کام وی
چه په سپینه رنړا ورځ ویده پربام وی

شیراحمد شیدا : دی دیوو وړو کی مد حیه اثر خاوند دی

چه په هغه کښی ئی «دسوات داخون صاحب» داړی د اخون صاحب، دمانکی دپیرصاحب صفتونه کړیدی، دا کتاب په ۱۳۰۰ هجری کال چاپ شو یدی، د کلام نمونه ئی دهغه کتاب داړی صاحب دمخ یوځو بیته دادی :

نجم الدین صاحب نوم ئی مشهور دی
درست کابل زمین له فیضه ئی معموردی
په مسجد کښی دتندو رسازی مدام
لری دی هم ښه عزت او سر انجام
بیا په ژمی کی راځی په ننګر هار
له قدومه ننګر هار کاندی ګلزار
په کشور د شریعت لکه څراغ
صنوبر غوندی و لاړ د دین په باغ

هغه دم کښی چه دی سرشی په بیان مرغلری تویوی در ومرجان

محمدامان: په کام داوی اودقندهار دخوادی ، په پښتو کښی دیوه وړو کی دیوان خاوند دی چه په (۱۲۸۳ هجری) کال ئی ختم کړیدی ، اشعار ئی عشقی جنبه لری دی وائی :

ستا پرمخ شیدایم لکه تور بورا پر ګل
چه دحسن سیال دی نشته تر هراته ترکابل

احمد ګل: دمشرقی دحسن خیلو د کلی مومندی ، دتولد نیټه یاسنه ئی ۱۲۵۸ هجری کال او پس درشد له سنه خورا ستر عالم شو، ده دعلومو زدکړی په غرض هند، مصر او نورو اسلامی مملکتو ته سفر کړی او بیا بیرته خپل وطن ته راغی ، دده اوقات تول په تعلیم او تعلم باندی صرف شویدی، په تدریس مصروف دشعرو یلوذوق اوښه طبع ئی هم درلوده ،درحمان بابا په سبک باندی اشعار ویلیدی ،عربی پښتو، پارسی اواردوژ بی ئی زده وی مګر اشعار ئی په پښتودی، دی وائی :

که زده می عربی، پارسی اردی په زرکرته
پښتو ده پر لذته

احمد ګل په پښتو کښی نوی بحور میندلی او اشعاریی پرې ویلیدی لکه داوزن اشعار:

نوم احمد ګل دی لخما قال دبلبل دی لخما
ننګر هار خپل دی لخما له ګناهو نولاندی مات می

دملاتیردی ربه - تل په ماوړدی ربه بل لخای وائی :

وسوم غمونو ، مرض وچ لکه تار و کړم
له غوښو ئی جارو کړم

مثال می دصورت په غمونه کښی زوړ قفس دی
مرغه پکښی نفس دی
چه پوښ دقفس زوړشی هرطرف لکه خوله شی
مرغان لخنی په تله شی

☆ ☆ ☆

بیاوائی :

چسپانده چه پښتو په ښه ترتیب سره پیوند شی
ظاهر ترینه یوخوند شی
کمال دشعر دادی چه په خوله زه وهم شخوند ښه
رسېږی تاته خوند ښه
اغوستی دی مضمون وی درنګین لفظ لباس
نه کوز وی نه دی پاس
نه لخانته شاعروایم نه دشعر زه دعوه ګیریم
اوس نه خلاص ښزم ګیریم
راپاڅی هرسړی پوزه کړی توره چه هنګریم
استاذ ، د خپل هنریم
چه کښ ښناست ودکانته زېره وسوزی مخ تورکا
اره پشان دلور کا
آخره زمانه شوه دور راغی دبی نیازو
منی غواړی په پیازو
که زده می عربی، پارسی، اردو په زرکرته
پښتو ده پر لذته

☆ ☆ ☆

احمد ګل په ۱۲۸۹ کال له مصره څخه لاهور ته راغی اوپه اسلامی مدرسو کښی مقررشو، شپږ کال وروسته په ۱۲۹۴ هـ کال د ۳۷ کیلو په عمر دپښور له لاری خپل وطن ننګر هار ته راغی

دارمستتروائی چه‌احمدگل له‌تبلیغ اوتدریس سره ز یاته مینه درلوده دی‌پخپل‌وطن کښی ۱۳ کاله نور ژوندی ؤ بیا دشینوارو په(کهی) کښی وفات اودچپرهار د(للمی) په کلی کښی دفن شو چه‌حظیره ئی هوری‌ده .

عبدالباقی کاکړ: دقندهار یومتصوف، عالم‌اوشاعردی، په‌کام سرخیل اوپه(ترنگ)نومی کلی کښی اوسیدی ، دی ددینی علومو په‌تدریس مصروف‌ؤ، ده‌بی‌له‌تدریس اوامر معروف څخه بل‌شغل‌نه درلود ،ده دپښتو په نظم یو لوی کتاب لیکلیدی چه(تهذیب الواجبات)ئی‌نوم دی، مضامین ئی ، دینی ، اخلاقی اوتبلیغی‌دی، دملت‌دوینتیا په‌غرض‌ئی اشعار ویلی اوپه لو مړی کتاب کښی‌ئی له‌احمدشاه‌بابارا پدبخوا تاریخی احوالات هم لیکلیدی داکتاب که‌څه‌هم دپښتو په‌مثنوی لیکل شوی مگر دپښتو په‌داسی اوزدبحر مثنوی‌دی چه دهری مسری دسلا یبلو شمیرئی۱٦ ته‌رسیږی ،تخلص‌ئی(افغان)دی،دحج‌سفر اودعربستان سیاحت‌ئی کړی د۱۳ پیړی‌عالم، شاعرؤ چه‌تر (۱۳۱۹ هجری پوری)ژوندی ؤ

د کلام‌نمونه‌ئی‌داده:

رااخستی می‌شهبازدی دخیل‌عشق رباب وهمه
نغاره داسلام کوك شوه دواړه بر یته تاومه
دساقی‌شراب‌له‌عشقه‌عالم‌ټول‌وینم گلر نگه
خوشحالی‌په‌حال‌دهغوچه‌ئی‌زړه‌پاك‌شوله زنگه
څه‌نغمی څه ترانی دی قسم قسم آوازونه
قمریان په بناخوناست‌دی‌مطرب نوی‌کړه سازونه
غم‌په‌جوش ،پیاله په‌دور، قلقل سود صراحی
مستانه‌په‌رقص راغله درب ودروب د پاکوپیر
چه‌دهوس‌پیاله‌ئی نوش کړه‌څه‌چه‌دلته ننداری دی
نمونه له آ خرته تماشی ټولې هوری دی
دلته‌محض عکس وظل حقا یق غواړه هوړې
چاچه شاکړه دی‌نشی‌ته زړبه‌وکړی ننداړې
سربالاکړه له‌ځانگونو ، وگوره پورته آ سمانته
شوه خیمه دمسافرو نظر وکړه تپر جهان ته

عبدالله پوپلزی: دقندهار په‌بلدی کلی کښی زوکړی اوپس له‌تحصیل‌څخه‌ئی په‌پښتواوپارسی اشعارویل په دواړو ژبو کښی دیوانونه‌لری ، سرپیره پردیوانوباندې داخلاقو په‌موضوع کښی یوه‌مثنوی‌لری چه (عبرت‌نامه)ئی بللی‌ده، اشعارئی عموماعشقی اواخلاقی‌دی، تولدیی په ۱۲٦۰هجری‌کال‌اوپه۱۳۳۳هجری کښی وفات شویدی ده‌دپښتوخورا لرغونی شاعران پخپل دیوان کښی ستایلی‌دی، د کلام نمونه‌ئی ولولی :

په څه غم شوم مبتلا دزړه له لاسه
چه کمی نکړی زړا دزړه له‌لاسه
په سرو وینو کښی دزړه غوتی وهمه
راته ملك شو کربلا دزړه له لاسه
په‌ظاهر که سازوباز کوم له خلقو
په باطن کړم واویلا دزړه له‌لاسه
هرچه طفل په شر مپښی هغه کاندی
ځکه هسی شوم رسوا دزړه له لاسه
په هوس دهر گلرخ شم ترموم نرم
عزت پرولم بی بها دزړه له لاسه
دبابا ترمزله تپر شولې نیکه شوی
لاوئپښی (عبدالله) دزړه له لاسه

سعادت‌خان: دخوشحال‌خان‌خټك داولادی یوپښتون شاعردی پلارئی افضل‌خان نومپده داافضل‌خان دتاریخ مرصع له مولف څخه‌پرته بل‌افضل‌خان‌دی څه موده په (جمال گری) کښی اوسپدی، نوځکه‌پادری هیوز دجمال گری افضل‌خان بللی دی سعادت‌خان‌دخپلوورونو‌په‌جدائی کښی‌چه‌بندیان‌شوی‌ؤ بوغزل‌ویلی چه‌دوه بیته یی دده دکلام دنمونی په ډول لاندی و لیکل شو و

خلك څه نا کردی ماته کړی دو ځاری
چه می‌ستر گی په ژړا کښی فواری شوی
نوی نوی غم ر ا لځی ز ما په خو نه
خبر یم د غم ما کړه د پرې شو ی

اسدالله‌خان : دذکرشوی سعادت‌خان مشرورووردی چه‌دی هم دپښتنو شاعرؤ ، اودخپل ورورپه بهلتون کښی‌ئی اشعارویلیدی ، دپې‌شاعر دوه بیته زموږ لاسته راغلیدی‌چه‌د کلام نمونه‌بی‌داده :

رود می‌حلقه له دواړوستر گو په گرپوان‌دی
خدایزو د اشرف اکبر ماتم اوردنیران دی

ددوی دادوه ورونه اشرف اواکبر په (تورو اوبو) کښی بندیان شوی‌ؤ ، داسدالله د کلام نمونه مو ولیکله یوبل‌بیت یی دا دی :

نن دقیامت ورځ‌ده تر قیامته لا بد تردی
تللی هغه ښه بستان د منی په خزان دی

اشرف : دسعادت‌خان ورور چه په‌تور اوبو کښی بندی ؤ ، هغه‌هم دپښتو شاعر دی ،یوغزل ئی لیدل شویدی چه دوه بیته‌ئی دنمونی په‌توگه لاندی ولیکل شوو :

موده وشوه چه‌سلام دیار ، رانغی
خبر نه‌یم چه پرځه ربیار ، رانغی
گلدسته می دخاطر نن پژمرده ده
چه‌خبر راته دورور او پلار رانغی

اکبر: هم‌ددغو ذکرشویوو کسانوو رورؤچه‌ده به‌هم‌دجدائی په‌ماتم کښی ډیر اشعار ویلی وی مگر مونږته‌ئی یوغزل لاسته

راغلیدی چه یو بیت ئی دادی :

خدایه داشپه دغم ، که‌رنا شی پرما
که به‌مدام رابا ندی بل دغمو اوروی

شك نشته چه‌ددغو ورونو اشعار ابتدائی‌دی مگرخبره داده چه دوی د خپلی کورنیر ادبی امتیاز چه اشعار جو پ ول دی ، نه‌دی هیر کړی ، دا کورنی (د۱۳۰۰ هجری) په حدودو کښی ژوندی‌وه‌دسعادت‌خان یوزوی‌چه‌فتح‌محمدخان نومیږی اوس هم ژوندی دی او دخپلی کورنیر خورا قیمتی اثار بی له‌ځان سره ساتلی ،یو بیدار او پښتون‌سړی‌دی .

منشی‌احمدجان : یوتذکره لیکونکی اوغوره ادیب دی چه باید دپښتو دآسمان یو رون ستوری یی‌وبولو، ده‌دپښتو ادب‌او ژبی لپاره خورا قیمتی خدمتونه کړیدی ، درست عمر بی دپښتو روزنی په لار کښی تیر شوبدی ،دی داشنغر دتنگی نومی کلی اوسپدونکی‌دی ، په مولوی او منشی احمدجان سره‌شهرت لری منشی‌صاحب دپښتو په‌نثر لیکلو کښی دسترنامه خاونددی ، شعر لږوائی، مگر په‌پښتونثر کښی نه‌تنهادخورا مهمو اثارو لیکوال بلکه دنوی سبك اوښونځی خاوند هم ګڼل کیږی اوله ۱۳۰۰ هجری‌کال راپدیخوا دده‌سبك شهرت بیاموند ، تردې‌پخوا دپښتو دنثر داډول‌قوی اوغوره‌روش چاندی ایجادکړی، منشی‌احمدجان له‌پنځوسو، شپیتوکلو پخوا څخه خپل ادبی مکتب پرانستلی او اوتراوسه‌پوری اثارلیکی، اورو چه منشی احمد جان لاژوندی دی اودامهال‌پی دعمر وروستی شپی درځی‌دی ، دی دهغو ټولو انګریزانو چه‌دپښتو په‌موضوع‌ئی اثارلیکلی‌دی او په‌پښتونستان کښی ګرزېدلی دی، استاذ دی ،دپښتو دادب‌له کمال څخه خپل اوږدی‌خبر کړی او دخپلی ملی‌ژبی اهمیت یی په عالمانه ډول اثبات ته‌رسولیدی ،منشی، خورا زیات تاریخی ، روانی اونور ادبی اثار لیکلی دی ، لو مړی اثر ئی (ګنج‌پښتو) او بل ئی د «افغانستان تاریخ» دی‌اصل‌ئی قلیسون انګریز لیکلی ؤ خو ده‌ترجمه کړیدی، مگردتاریخ نثرئی داډول روان او استاذانه دی، لکه ده‌چه تصنیف کړیوی ، دمنشی د نثر ممیزات سادګی روانی اودپښتو په‌محاوره برابر اوپه‌ټوله معنی سره یوعصری اوعالی نثر بلل کیږی ، منشی‌احمدجان د ( قصه خوانیر ګپ ) او(هغه دغه) دوه‌نور کتابونه هم کښلی دی چه خورا خوندور اوخوازه مضامین لری ، میراحمد شاه رضوانی که څه‌هم دپښتو په‌تعلیمی سلسله کښی‌دیر کتابونه لیکلی اودپښتو د نثر دتحول اوتجدد په‌باره کښی برخه‌لری مگرمنشی احمدجان‌ته نه رسیږی ځکه دوهم نثر لیکونکی دی ، پادری هیوز د منشی‌احمدجان د (ګنج‌پښتو) یوه‌برخه پخپل اثر «کلیدافغانی» کی اقتباس کړیده لاندی به‌دمنشی صاحب‌دنظم اونثردوی‌لنډی نمونی و کاږو :

شعر، دژبی ترعنوان لاندی :

ژبه :

په هر د م په هر زمان پکار ده ژبه
د همه وا ړه جهـا ن په کار د ه ژبه
نا ا شنا ، اشنـا کـوی سره خبر ی
په خبر و نژ دی کـښی خلق لری
چه‌دچا خوله کښی خوزه‌ژبه غړښی
د مچانو په‌شان خلق پرې بو نړښی
دتور زن به پکار نه وی همره تو ره
لکه‌ژبه چه هرځای کښی وی منظوره
کارو بـا ر د مصلحت په ژ به کښی
مصـلحت د سلطنت په ژ به کښی
که کاتب دی، که کاغذ ، که دی قلم
ټول د ژ بی خد متګار دی دم په دم
په‌مرغانو کښی طوطی دی عزت مند
دا پدا چه ښی خبر ی کړی د خو ند
مگردوه شرط په ژبه کښی‌ضرور دی
دغه دواړه ضروری په ښه دستور دی
اول دا چه ښی صحیح کـوی خبری
چه خبر ی شی په مثـل مـر غلر ی
بل‌په بدو دی‌خو له نه خو ځوی خپله
تل‌دی‌سم په اندازه وی لـکه تـله
بد ه ژ به د سړ ی ځـا نته بلا شی
خو زه ژبه د سړی چا پیر قلا شی
هرسړی دسړ یتوب دعوی چه کاندی
ځان دی‌پوه کاندی په‌ډیروژبو باندی
په یوه ژبه مطلب نه پو ره کـښی
که هوښیار وی هم‌له‌سره نه پوهیږی
که حاکم وی غوره هیڅ نشی کـولی
کـه عالم وی طالب نه شی لولولی
(احمد) وکړ په دا شا ن لسان کلام
چه‌پوهیږی پرې کل واړه‌خاص وعام

☆ ☆ ☆

حکایت شلم

دمنشی احمدجان دنثرپوه نمونه له‌ګنج پښتوشخه : « له‌یوه حکیم نه‌نقل دی‌چه ویلی‌ئی دی : له هرځناور نه‌می یو یوخوی غوره کړی‌دی، چاورته وویل چه په سیی کښی درته کوم‌خوی ښه‌ښکاره شوی‌دی ،هغه‌ووې چه‌مینه په‌خاوند باندی،بیائی ورته وویل چه په خنز یر کښی‌دی کوم خوی خوښ‌دی ، هغه‌ووې‌چه وختی په‌خپل کار پسی روانېدل ، بیائی ورته وویل چه په قارغه کښی‌درته کوم‌خوی غوره‌معلومیږی ، هغه‌وو چه‌له‌هرچاوبرېدل

بیائی ورته وویل چه‌دپیشو درته کوم خوی ښایسته ښکارپږی، هغه‌وو چه‌پیره زاری کول په‌وقت دسوال کښی »

دمنشی دنثر ممیزات : عبارت خوږ ، جملی لنډی، ښه ادا ، دکلام سلاست او روانی، دلغاتو اصالت ، د محاوری استعمال ددی‌نثر مهم‌ممیزات دی ، اوپدی نثر کښی دبلی ژبی‌رنګ نشته اودالفاظو ادبی خوږ والی‌ئی ډیردی- نوپدې لحاظ سره منشی احمدجان ته په ١٤ پیړۍ- کښی دپښتو ژبی دنثر د نوی سبك مؤسس اودعصری ښونکی خاوند ویلای شو .

میراحمد شاه رضوانی : قاضی میراحمد شاه رضوانی ددې زمانی نومیالی ادیب او دپښتو ژبی‌د ادب‌یو پیاوړی لیکوال دی چه‌په‌نظم اونثر کښی دلوی‌لاس‌لرلو څښتن ګڼل کیږی ، دی دپښتو متخصص، دکتور ،اوستر استاذ بلل‌شوی ، په انګریزی ژبه‌پوهیده، دشمس‌العلماالقب ئی ګټلی‌دی ، رضوانی په ( ۱۲۷۹ هجری) دپښور په(اکبر پوره) کښی زوکړی ،اوپس له‌تحصیل څخه‌ئی دپښتو دمولفاتو په لیکلو پیل کړی ، او مهم اثارلری، دده‌ستر تصنیف دپښتو ژبی‌یو«ګرامر»دی چه(وافیه) نومیږی او په اردوئی لیکلیدی ، داکتاب دپیر محمد دمعرفت الافغانی څخه وروسته ، دپښتو لومړی ګرامر ګڼل کیږی، دده دوه نور مولفات «شکرستان افغانی» او«بهارستان افغانی» نومیږی چه هغه دواړه کتابونه د ښونځیو په‌تعلیمی نصاب کښی داخل او دتعلیم په سلسله کښی مهم کتابونه ،نظم او ثر لری ، دده خپل نثر اونظم هم‌پکښی موجوددی، امازیاتره ئی انتخابات دی ، په‌دغو اثارو سربیره رضوانی داشعارو یودیوان هم لری ، دی یومنور ، اومتجدد ادیب دی‌چه د قوم دانتباه او ایقاظ لپاره‌ئی ځینی اشعار ویلیدی ، دی دپښتو په نثر لیکلو کښی، تر منشی احمدجان وروسته لومړی درجه‌لیکوال دی، دنثر روش ئی هم هغه‌دمنشی احمدجان سبك ته‌ورته‌دی، درضوانی د اشعارو نمونه لاندی و لیکله شوه :

که معنی هیڅ دربکښی نه‌وی پخیل ځان
په نیـکه په تر نیـکه به نشی خـان
اصـالت په اهلیـت په لیـاقـت دی
نه‌په‌دی چه فلانکی‌خان ، اوفلانکی خـان
که‌پښتون شی ګدا ګر ، د درسـت جهان
غټ یی تللی د پوهـی دی تر یو نـان
هسی ښـه مهمان نـوا ز ه خـلق نـشته
لـکه خد ای چه پیدا کـړ یدی افغـان

رضوانی سربیره پردی چه‌یو پیاوړی پوهاند ، اوفاضل‌سړی دی ،دپښتو، فارسی اوعربی ژبی یو مشهور شاعر اوادیب‌هم‌وو ، درضوانی ثرتولو ستر کار دادی چه‌ده‌دانګریزانو په دوره کښی دپښتونستان دښونځیو په‌نصاب‌کښی دپښتو ژبی ادبی زده کول هم‌شامل اوپه‌صوبه سرحد کښی‌ئی‌دپښتودتعلیم کړی‌ورځ‌په‌ورځ ارته‌کړه ،اوحتی دپنجاب په یونیورستی کښی‌ئی‌هم د پښتو ژبی تعلیم اوتعلم دنورو ژبو په‌ډله کښی مروجه کړ ، پدی حیث‌سره ئی‌دپښتو دادب او ژبی لپاره یو نه هیرېدونکی خدمت له ځانه یادګارپری ایښی‌دی - رضوانی په عربی کښی‌هم ډیری‌قصیدی لری اوپه پارسی‌یی‌هم ښه‌اشعار ویلیدی ، دی دکابل په تعریف کښی وائی :

کابل ، ای‌آنکه هرلطف وتماشا باتست
وی‌که ازهرطرف آمیزش دلها باتست

وائی چه دمیر احمد شاه اثار تر(۳۰) پوری رسیږی چه‌له هغی‌جملی څخه ځینی داکتابونه‌دی :

۱- جزری‌په پښتو نظم ۲- دکافرستان تاریخ ۳- اثار قدیمه ٤- تاریخ افرید ٥- سفرنامه‌ٔ رضوانی ٦- مجربات رضوانی ۷- تحقیق‌الاسنه ۸- دیوان، او قصائد رضوانی، دی د (۱۳٥۳ هجری‌کال) د روزی په‌میاشت کښی وفات شو یدی (رح)

احمددین : یوطالب‌العلم اوشاعرؤ ، دی اصلا داشنغرؤ، خو په سوات کښی‌ئی هستوګنه درلوده یه پای‌کښی د خپل شاګرد (صحبت‌خان) سره‌په‌مردان کښی‌اوسپدی، اوهوری وفات‌شویدی ، دطالب احمددین غزلی اورباعی ګانی خورا شهرت لری، اوددې دغزلو، اورباعی ګانودیوان څوکاله مخ کښی په‌پښور کی چاپ شو یدی ، ده په ملی لهجه او وزن سره هم خو را ښی سیری یدلی ویلی‌دی، سندری یی عشقی او اخلاقی مضا مینوته حاوی‌دی ، احمددین‌د١٤ پیړۍ- دلومړی- برخی ادیب اوشاعر ګڼل کیږی ، دوه‌بیته یی‌دنمونی په ډول انتخاب‌شول :

دبلبلو ، بېد لا نو از ار مه وړه
دا ګلزاو که‌دی نن‌وی صبا به نه‌وی
دلعلونو ، دمرجـانو ، سوداګره
خریدار که‌دی نن‌وی صبا به نه‌وی

ملانعمت الله : دپښور د نوښار اوسپد ونکی ؤ ، نعمت‌الله دپښتو یو زبردست شاعر او په نکلو ، او قصو کښی دتخصص اواستاذی- حیثیت لری ، که څه‌هم دقصو اورمانو لیکلو کار په پښتو کښی تردې خورا پخوا شروع شوی‌ؤ ، ځکه له‌ډیری پخوا زمانی ، او بیا ددریمی دوری له شروع څخه داکار مروج دی ، مګر نعمت‌الله ، د رومان لیکلو ، او افسانی لپاره یو نوی سبك غوره اوهغه‌یی ولوړی، درجې‌ته ورساوو ،ده د قصولیکل دیوه مسلك په حیث غوره او افسانوته ئی‌یو خوندور او خوږ کیفیت ورکړ، لدې کبله په دغه اعتبار سره نعمت الله ددې فن محقق اواستاذ بللی شو، ده ډیری عشقی اورزمی افسانې دپښتو په‌ساده اوروان نظم کښی لیکلی ،اودخونداوخوږوالی په لحاظ

دده هره‌قصه یوادبی شهکاردی ،سربیره پردی نعمت‌الله غزل اورباعی گانی (خلوریخی) هم ویلیدی ، مگر کوم مستقل صمرت نه‌لری خبره‌داده چه دده روائی اوافسانوی اشعار د ډیر ستاینی وړ گڼل شوی، دی‌عادت لری‌چه‌دهر داستان په شروع کښدو کښی ،دتثبیت په‌ډول یوځو بیته وائی اوپه هغو بیتو کښی یوداسی ڪشش اوجذابیت موجود وی چه لوستو نکی دې ته‌مجبور کړی چه‌باید تولە قصه تر پایه یوری ووایی د مثال په‌توگه دلیلی اومجنون قصه داشان شروع کوی :

مشك افشان قلم زمالکه طوطی نن
په چمن دعاشقی کوی مستی نن
په ورو، ورو ، راته دعشق وایی بدلی
تماشی ته‌ئی را ؤ چتی شوې بلبلی
پر افسون چه کړی آغازه افسانه
عندلیب شی ورته پورته مستانه
دتقریر مارغه چه والوزی په باغ
په‌دیدن بی دلالـه زړگی شی داغ
په‌فصحت چه نزاکت له خولی وباسی
له بوستانه بورا گان پسی را پاسی
مورخ دتـوا ریخو نکته سنج
پدی ځای کښی ژغوی د بیان گنج

☆ ☆ ☆

حقیقت خو دادی کـه چیری نعمت‌الله ته‌مونږ د پښتو ژبی فردو سی و وایو مبالغه‌به‌نوی‌ځکه که‌له‌ده‌سره دفرودشی په‌شان دکوم پښتانه‌سلطان مادی اومعنوی مرسته‌وای نو له فر دوسی څخه‌به‌ئی سبقت کړی‌وای دملانعمت‌الله هغه‌مشهور آثار چه چاپ شویدی هغه‌دادی .

دلیلی اومجنون قصه،دنیمبو لا قصه دفتح‌خان نکل ، د موسی او گلمگی قصه‌دحضرت علی رض جنگنامه د حاتم طائی قصه شهنامه الف‌لیله، او داسی نور کتابونه ... دنعمت الله د ژوند زیاته‌برخه له (۱۳۰۰هجری) راپدیخوا گڼله شویده ...

اوس دده نمبولا دقصی‌څخه یوه نمونه مطالعه کړی :

پا چا هی چه دلمر لاړه تر آسمانه
پرله پسی سیوز می راوخته روښانه
راځر گـنده هر یوستوری په جلوه شو
نمبو لا ستی دهجـر په لـمبه شو
واویلا ناری‌یی کړی دعشق له جوشه
گاه به‌ؤ پرچیغو سر گاه به‌خاموشه
گاه‌به‌شه خلوت نشین‌گاه به بهرشه
کله کله یه د سر په وهو سر شه
پو گړی یی قراری د وجود نه وه
په هیڅ کار کښی دزړگی بهبودی‌نه‌وه
که به چا تړې دمرض وکړه پو ښتنه
چه‌داشور فریاد کوی وا یه له څه نه
ده‌به‌وی چه‌دامی‌رنگ شکارښزی زرد
کله کله په ما وی د گـهـډې درد
چه‌داهسی‌لوی‌مرض‌په‌زړه‌چوړچور کړم
زی د گهدی‌ په‌مرض‌مدام رنځور کړم
نه‌ئی شیه آرام په ویخه نه‌په ملاستی
تصور به زنـگاوه د غـم په بیاستی
چه‌دعشق په‌دریاب کښی‌شوك لا هوشی
په جرگـه دعـاشقی هله هـا هوشی
چه‌له‌دښه به پرې راغی احوال سخت
سر به‌ئی کـښود ، د غمونو پر بالښت
چه‌دعشق سپاڑه د چاپه‌خونه‌زغاست‌شی
ای ملا نعمت الله کوری میرات شی

دملانعمت‌الله له‌شهنامی‌څخه :

په‌دی ځای راوی و لی‌مضمون هسی
حکایت راته معلوم په‌قا نون هسی
له‌دنیانه چه هوشنگ وکړ رحلت
طهمورس که‌خدای پا چا د و لایت
غریب دوست غریب نوازه دادگر ؤ
همیشه عدل وانصاف یی په خاطر ؤ
په خاطر ئی ؤ بهبود ، د مخلوقـاتو
ده کړه جمع هوښیا ران د ولا یاتو
ده ویل چه هسی شان وکړی‌ءتدبیر
منفعت چه وی دخلقو تری کثیر
شروع هغه‌وخت کښی‌شوه پشمی‌بافی
چه عالمو لره ښه پوښاك کـافی

☆ ☆ ☆

ملااحمدجان : دپښتو یو پیاوړی قصه لیکونکی شاعر دی

دی دپښتورپه (دوابه کښی) هستیدی ، ډیری قصی‌ئی په پښتو نظم لیکلی‌دی د۱۳۳۲ هجری‌کلو په حدودو کښی‌ئی ژوند کاؤ دملانعمت‌الله په‌ښونځی کښی یوپوخ شاعردی ، دالاندی کتابونه دده په‌نامه یادیږی : دورقه گـل‌شاه‌قصه، دشهزاده ممتازقصه دشهزاده بهرام او گـل اندامی قصه دامیر حمزه ، دشهزاده شروبه، یوسف‌زلیخا، ملااحمدجان غزل اور باعی گـانی‌هم‌لری دالاندی بیتونه ئی دکلام نمونه ده :

چه‌دی شمع دسپین مخ کړه ورته بله
احمد جان لکه پتنگ، ورته تن ونیو
څوك‌سواره گرزی په‌آسو حکومت‌کا
څوك له‌بدی ورځی بل‌ته رکاب‌نیسی

احمد اخون خیل : دقصه لیکونکو له‌پلی څخه‌دی، ده دامیر حمزه داستان یه‌پیر خوږ نظم لیکلیدی، د (۱۳۰۰ هجری) په شاؤخوا کښی‌ئی ژوند درلود ، دکلام نمونه ئی داده :

راوی وائی حکیم پوه شه په دابـاندی
نو خپل زوی‌ئی طلب کړ‌لخان ته وړاندی
وی، ای زویه امیر لره‌ورځه تـه
په هرشان چه کښږی زرئی را ولـه تـه
سیاوش ووی چـه ستا فرمـان منمه
ولی وایـم چه امیر لـره ور ځمه
می بـاید چه شه پیشکش ورله پیداشی
په خـالی لاس به امیر څنگه رضا شی
نو امیر تحمل ډیر په دغـه کـار کړ
یو بیرغ ئی اژدها غوندی تیـار کړ

احمد دپجگی : په کـام خلیل او د(سپینی ډیری) دی په پجگیر، نومی کـلی کښی اوسیدی داپرته له ملا احمد جان، اواحمداخون خیل بل‌احمد،دی،دی‌هم یوقصه‌لیکونکی شاعردی، «دانیس‌الواعظین» په نامه دپښتو په لنډ بحر یو کـتاب لـری، داکـتاب په سنه ۱۳۰۵ هجری کښی لیکل‌شوی ، اویو بل کتاب ئی دجمجمه قصه نومیږی، ددی‌قصی په‌منځ کښی ئې ، غزلو نه هم لیدل شویدی، دکلام نمونه ئی داده :

چه سحر بلـبل آواز کـا — د هجران له بـابه سـاز کـا
فلك ځکه سر گر دان شو — پیداغم کښی دا جهـان شو
چه آواز هم د رباب شـه — ډوب دهجر په در یـاب شه
ځما دله تـل گـویـا شـه — سر گردان لـکه اسیا شه
ډیر تسبیح دپاك‌سبحان کړه — دطوطی په شان زبان کړه

☆ ☆ ☆

میرمن صاحبو عاجز : داپښتنه میر من دگل‌محمد بار کزی لوروه، دقندهار په‌اطرافو کښی اوسیده،دی به ملی غزلی ویلی ۱۲۹۷ هجری پوری‌ئی ژوند معلوم دی، اوخوپاڼ کی یی‌دادی :

په‌خپل خدای‌به‌فریـاد کړم‌عوض‌غواړم‌له‌یاری
ننگوم به گـړ نـدی
ماویلی جلکیر زه خو را غلمه د شپی
حاجت می‌دی راوړی بخت‌خوغواړم پرتندی
ننـگوم بـه گـړندی

مولوی سیداحمد : دکوهاټ دیوه مشهور عالم زوی‌دی، ده دپښتو متلونو یوه مجموعه لیکلیده پدې ادبی‌جونـگ کښی‌ئی ٦۷۹ متلونه دالفبا په‌ترتیب پریله‌پسی مرتب کړیدی ، داکـتاب دپادری هیوز لپاره غلام جیلانی نومی په۱۸۷۵ع کـال لیکلی اوخطی نسخه‌یی دبرطانیی‌دموزیم دفهرست‌په‌قراردلندن په‌موزیم کښی خوندی‌ده، ددې نسخی له‌مخی دمولوی سید احمد د ژوند زمانه د۱۲۹۰ هجری په‌شااوخواکی ښر گـند ښکاری، مـولوی سیداحمد، ځینی نور پښتو کـتابونه هم لیکـلیدی او دا دپښتو متلونه ئی لومړیۍ اثردی، ددې نور معلو مات تردې‌نیټی پوری زموږ لاسته ندی راغلی .

میااحمد : په مروجو عربی علومو کښی دمهارت خـاوند، اودپښتو ژبی شاعر ؤ، دی په‌احمد کلاچی‌سره مشهور ؤ ، ددې کورنیر داسمعیل‌خان دډیری په کلاچیر نومی کـلی کښی اوس هم شته‌ده دی (۱۳۰۰) هجری کـال‌په‌حدودو کښی ژوندی‌ؤ ، اودامیر دوست‌محمدخان دزامنو معاصر دیۍ میااحمد کـلا چیر په پښتو کښی یودیوان لری اوپه دیوان کښی‌ئی‌حماسی اشعار او څلوریځی (رباعی) چاربیتی، غزلی‌اونور هرډول خوازه اشعار موجود، دی دنوموړی ددیوان یوه نسخه چه دده په‌خپل خط ده دپښورداسلامی کـالج‌په‌کتابخانه‌کښی خوندی او داحمد دیوان په (۱۰٤) مخونو کی چاپ شوی هم دی، دیـوی چـار بیتی کسر یی دادی :

بیابنـکلی محبوباشوه‌اراسته‌چشمانی‌توری — راځی‌په‌سرومنگلو
له‌خیاله‌یی‌شانه کړی‌په‌مخ‌زلفی‌دوری دوری — دالښته د سنبلو

اشعاریی خورا عالی او چاربیتی یی په ډلس کښی شهرت لری، دوفات نیټه‌یی رامعلومه نشوه .

سیدمحمد عمر: دمولوی‌عبدالرحیم دفهرست‌پقرار، د پښور په کوټه نومی‌ځای کښی اوسیده، اود«گلشن‌افغانی» په‌نـامه ، دپښتو دشاعرانو داشعارو یوه مجموعه‌لیکلی ده، داکتاب عشقی غزلی اوچاربیتی اونور ډول ډول اشعار لری، پدې‌اثـر کښی دهرشاعر له اشعارو سره دهغه دژوندلنډ حال هم لیکل شویدی اوکـتاب یی دپښتو دشاعرانو یوه لنډه تاریخچه هم ده ، ددې کـتاب‌یوه نسخه داسلامیه کـالج په کـتابخانه کښی خوندی ده، پخپله سیدمحمدعمر هم شاعر ؤ، نوښایی چه‌دده خپل اشعار هم په نوموړی نسخه کښی موجودوی‌خوموږته سمدستی‌دده داشعارو نمونه په‌لاس رانغله .

غلام محمد خان خټك : دفتح‌خان زوی او دجهانگیری کلی دخټکو دکورنیر بومعروف شاعردی، ده په پښتو پـار سی او اردو ژبو اشعار ویلی اودنوموړی تروفات‌وروسته ، دده دکلام یوه برخه د ( رموز ختك ) په نامه محمد زمانخان ختك چـاپ کړیده چه دپښتو ، پارسی‌اواردو په‌خورا خوږواشعارومشتمله‌ده.

محمد یار صاحب زاده : د قلات دغوندانو پـه کـلی کښی، اوسیده‌دی دافغانستان یوخورامشهور روحانی سړی اودبانوریی نقشند یی طریقی پیر اودار شاد خاوند ؤ، محمدیار صاحب زاده دامیر عبدالرحمن خان معاصر اوخورا یوخوږ ژبی شاعر هم ؤ،

اشعاریی عرفانی اوعشقی دی، بایجان‌صاحب‌زاده د پښتومعروف اومعاصر شاعردمحمد یارصاحب زاده کشرزوی دی، او محمدیار صاحب زاده دخوارقو خاوند او په آتش نفس سره مشهور وٌ ، په‌کابل، غزنی، مقر اوقلات کښیٔی ډېرمریدان درلـو ده ، یوگرزند مرشد اوخورا خوش طبـع ، عالـم اومتقی سړی وٌ ، دامیر عبدالرحمن خان دسلطنت په‌اخر کښی وفات شـویدی ، اشعار یې په ژلس کښی خپاره اودیوان یی ندی لیدل شـوې دکلام نمونه یی داده :

جانانه‌ودې‌سوم‌دهجر په‌انگاره‌خاوری‌شوم ستا ددربارە جانانه.
کـاشکی گل نه‌غوړېدای، یائی بوی نه‌لگېدای ، یا بېرته نه‌ژرېدای
یاخزان نه‌وای
همیشه وای، نوبهاره،خاوری‌شوم ستاددلباره جانانه‌ودی‌سومه.

☆ ☆ ☆

کـاشکی‌زه نه‌وای پیدا، یاپتانه وای‌شیدا، یالتانه وای جدا
یاصبرزماوای، یاته‌نه‌وای ستمگاره خاوری‌شوم ستاد دلباره
جانانه ودی سوم
زه «محمدیار» یم ډېرگناه گاریم گمنصو ر په دا ر یم
که فضل‌او کړی اللهی پروردگاره خاوری‌شوم‌ستا دلباره
جا نانه‌ودی سوم دهجرپه‌انگـاره خاوری‌شوم ستاددلباره

☆ ☆ ☆

امیر علیخان : دمحمد اجمل خټك د مقالی له‌مخی چه دکابل دمجلی په(۱۷۹) گڼه کښی خپره‌شوی‌ده ،امیرعلیخان دجهانگرې په‌حسن خیلو کښی یوپوخ‌ادیب اوشاعرؤ ،ده (۸) قلمی کـتابونه لیکلی دی یعنی‌دی‌ئی مولف‌دی‌پدې‌قرار : ۱ـ زړخوږی مسلمان په‌نظم سره ۲ ـ کجکول چه دامام وردی‌رح ، دعرفانی قصیدې ترجمه اوشرح ده ، ۳ـ داخوان‌الصفا په‌باره کښې په‌نظم‌اونثر سره یوه ترجمه‌ده «۳۳۷ مخه» ٤ـ دسحرستوری ، ٥ـ مقامات امیر چه‌د پښتو دمحاورو اولغاتو یوه خزانه‌ده ، ٦ـ نبی‌خبری‌له عربی څخه ترجمه ۷ ـ سرحدی گل ، ۸ ـ خوږه ورور ولی ـ دامیر داشعار نمونه داده :

ددوسته سلام‌جانان ترهرسبا، هرسحروایه
دزخمی زړه ارمانونه ، دوفا په‌نظر وایه
دزمزم‌او بویوځاځکی‌جام‌لبریزدی مادپاره
لابه ولی زمانشی ای ساقی د کوثر وایه
علامه‌ماتول علمونه‌دعرفان‌په‌نورنثار کړل
ته‌تر عمره‌له‌استاذه،سبق زیداود بکروایه

☆ ☆ ☆

محمد رفیق : شمس‌الفلك‌تخلص دکـابل د۱۷۹ گنی له‌مخی د(شمس‌الفلك ددیوان) په‌نامه یوښه‌اثرلری، د مجموعه یـادیوان دری برخی لری لومړی برچه‌یی داخلاقو بیان‌دی ـ دوهمه‌ئی‌په پښتو سره دامالی دقصیدی شرح‌ده ، دریمه برخه‌یی ټول اشعار اوغزلیات دی .

محمد رفیق لومړی دپښتور په (اکبرپوره) کښی اوسیدی، خوبیا مردان ته ولاړ .

دی یوپوهانداوشاعر سړیؤ،مولوی‌عبدالرحیم‌بخیل‌فهرست کښی لیکی چه‌دده کلام ، اوقوی دی ، اونو موړی مجموعه یی دپښتو ادب‌یو «قابل‌قدر کـتاب‌دی» محمدرفیق دامیرعبدالرحمن خـان په‌زمانه کښی کابل ته‌راغلی وٌ ، اوامیر دده دعلم او ښی طبع ښه قدر کړیوٌ ، دی تر۱۳۳٦ هجری کـال دمخه وفـات شویدی ، دده نوموړی دیوان ندی‌چاپ شوی ، مگر یوه خطی نسخه یی د پښتور په‌اسلامیه کالج کښی موجوده ده .

عبدالحنان «داعی» : دعبدالرحمن اخون‌زوی پکام ملا خیل د کال دمشرقی ولایت د لغمان د زیـارت په کلی گـښی زېږېدلی‌اوپس‌له تحصیل څخه‌یی په‌شعر ویلو بنا کړی هرډول اشعاریی ویلی دی ، دیوان‌ئی ماولهد پښتو او پارسی اشعارئی گډ سره لیکلی ، په‌ادبی علومو پوهیدی داعی د شرعی محاکمو په‌چارو کښی ټول عمرصرف کړی ، اوتر ۱۳۲۰ه پوری‌دلغمان کونړ د پیچ دره ، اقچی ، شینوارو ، د(کهی) په‌محاکمو کښی په افتا ، اوقضا کښی کـار کړیدی ، داعی داخرنی ما موریت به‌ترخ کښی ناروغ اودزیارت دغونډی‌ـ په کلی کښی د (۷۲) کالو په‌عمر وفات اوهوری دفن‌شو،دداعی دپښتو داشعارو نمونه داده :

غزل

ته‌له مانه خوری دلبره خار په څه
داپه‌څنك کښی کښنو ی اغیار په‌څه
ماخو سراومال دتا په‌مخ ئی اپښیء
پرې دپاسه می رتی بـار بـار په‌څه
بلبلان چه‌مـست دگل په‌سلسبیل دی
خنجرساتی گل‌په‌څنگ آبدار په‌څه
ماهرویان په عاشقانو ترحم کړی
ته‌په مـا ئی همیشه په قـار په څه
پتنگ ځان‌سوځی په‌داورلمبو باندی
شمع پټ کی په‌فانوس‌رخسارپه څه
هـی توبه په‌خپلو بـدو نه پوهیږم
ته‌له ما « حنانه» ئـی بیزار په‌څه

غزل

نه‌به ووینم ښایـ‌ـت جبین روښان بیا
نه‌به واورمه گـفتار د خپل جـانان بیا
نه‌به بیا مجنون دیدن دلیلی‌و کړی
نه‌به‌شی ملوك‌بدری‌ـ پسی‌روان بیا

نه به تخت د سلیمان بیا په هواشی
نه به راشی ترنگین لاندی دیوان بیا
نه به بیا په ما «داعی» تهر ساعت راشی
نه به سشمه لیونی سر په بیابان بیا

نعمان الدین احمد : دی دپښتور د «سری دپری» میا اوپکام کاکاخیل خټک دی ، نو موړی یوعالم اوښه دار سړی ؤ ، له پښتو ژبی سره ئی خو را مینه درلوده ، نعمان الدین د پښتو ژبی د کتابو له چاپولو سره علاقه درلوده اوپه لیکلو کښی ئی هم ډېر کوششونه کړی دی، اوپخپله هم په پښتو کښی د آثارو خاوند دی . دده یو کتاب (ظفرالنسا) نومېږی چه د ښځو دښوونی لپاره ئی لیکلیدی ، او په ۱۳۲۲ هجری کال نوموړی کتاب په هند کښی چاپ شوی هم دی ، همداډول ده د (ابن بطوطه سفرنامه) هم په پښتو ترجمه کړی دی، اما دامهم اثر ئی موږ تراوسه نه دی لیدلی .

دنعمان الدین په کورنۍ کښی نور هم دپښتو لیکوال شته دی ، دده ماندینه ، میرمن همد « زینت النسا » په نامه یو کتاب په پښتو لیکلی دی .

مشیر الدین : ددغه نعمان الدین کاکاخیل تربورؤ، او په اخلاقو کښی ئی دشیر الاخلاق په نامه یو کتاب لیکلی ، اووائی «لکه چه چاپ شوی هم وی » .. دده یو بل کتاب (تاریخ برامکه افغانی) نومېږی .

میا محمد یوسف : داشنغر د (سری دپری) دی پکام کاکاخیل اود نعمان الدین احمد دخور زوی ؤ ،ده یو کتاب د نذیر احمد تالیف ، په پښتو ترجمه کړیدی چه (توبة النصوح) نومېږی ، دا کتاب په ۱۳۲۲ هجری کال چاپ شویدی ، دنوموړی کتاب یوه چاپی نسخه داسلامیه کالج په لا ېبرری کښی خوندی ده مولوی عبدالرحیم په خپل فهرست کښی ایکلی دی چه ددې کتاب ژبه فصیح اوپه پښتو نثر کښی دپښتو ژبه یو غوره نمونه ده - ددې ادیب په باره مونږ نورمعلومات نه لرو خود مفتی عبدالرحیم په وینا ، دی دپښتو ژبی یولایق نثر لیکوال دی ،

میا حبیب گل : دی دکاکاصاحب د مزار دکلی اوسېدونکی اونوعالم اوشاعر سړی ؤ ، تر ۱۳۰۵ هجری کال وروسته وفات شویدی ، ده په پښتو کښی ډېر کتابونه لیکلی اوترجمه کړیدی چه خینی یی دادی : ۱- داصحاب کهفوقصه، چه «دافع الغم» نومېږی ۲ - دشمس قمرقصه ، چه دپارسی څخه ترجمه شویده، ۳-دعجیب غریب قصه، ٤« گلدسته حکایات» چه له اردوژبی څخه ترجمه شویده.

٥ - دزاد الفرح « قصه چه د مفرح القلوب ترجمه ده، ٦- » «بیاض» خو په دغو تولو کتابو کښی ئی «بیاض» یومهم اثر دی، داکتاب (٥٠٠) مخه اودپښتو او پارسی په اشعارو مشتمل، اود میا صاحب خیل او د نورو شاعرانو منتخبه اشعار پکښی راغونډ شویدی، خبره داده چه دمیا صاحب گل «بیاض» دپښتو ژبی یوقیمتی کتاب دی اوپدی مهم ادبی اثر کښی دډېرو پښتنو شاعرانو نومونه اودکلام نمونی خوندی شویدی .

خینی نور شاعران چه ډېر مشهور نه دی : دمیاحبیب گل په بیاض کښی د خینو مشهورو شاعرانو اشعار هم راغلی دی لکه رحمان،حمید، خوشحال خان ، هجری کامگار، یونس، سکندر اوداسی نور، مگر دتوجه وړخبره داده چه پدې بیاض کښی دخینو داډول پښتنوشاعرانو نومونه اودکلام نمونی هم ذکر شوی، چه تراوسه موږته نه ؤ، معرفی ، لاندی دهغو نامعلومو شاعرانو، نومونه لدې کبله لیکو چه له تاریخ څخه هېرنشی، خود دوی شرح حال تراوسه نه دی معلوم «معطره نجیب، عبدالوهاب، سیدآدم، رشیدعلی، جنگ، نادر،احسن، شاه غریب، شمشیر، نورمحمد، خادم شمس الدین، طلب شاه، مزین ، مسعود میان گل »(دپښتون محلی له ۱۷ دنومبر سنه ۱۹٤٥ ع څخه )

خینی نور شاعران : چه شوك قصه لیکونکی، او شوك ددیوان خاوندان، اوشوك عشقی اوازمی اشعار او اثار لری، هر کله چه ددوی بشپړ شرح حال له موږ سره نشته نو لاندی به ئی نومونه اوادبی مسلکونه څرگند کړو :

دقصه لیکونکوډله : حسن د «گلزار احمدی» لیکونکی ، قاضی عبدالرحمن، د «افسانه دلپذیر» لیکونکی، ( داسړی په کام بانوزی اودسوات دی) عجب خان دپښتور دپخوانی اوسېدونکی، یوه قصه ئی نظم کړی، همدغسی دغوث پاك مناقب یی لیکلیدی، علیشاه، دمناقب اعظم اثر اودفرعون د قصی لیکونکی دی » فضل ربی هم یوه قصه لیکلی، ابراهیم شاه هم یوه قصه لیکلی، سید حسین د جنگنامی لیکونکی ، جلادخان، یوه قصه، رحمت جنگنامه،امان گجراتی، سعیدشاه، عبدالکریم دمحبوبا اوجلات دافسانی، لیکوال دی، محمد خلیفه، دحسن اوحسین قصه د پښتو په نیم منظوم نثر لیکلی ده، حیدر خان، دحاتم طائی دقصی لیکونکی، خالد د سلطان محمود قصه لیکلی ده عبدالغفار (تایب) «دمحبوب هشام» اوعجایب جهان» اونورو کتابو لیکوال دی .

دډیوان لرونکوډله : شاه افضل،محی الدین، قلمی اشعار لری، عبدالعزیز، اویارمحمد دقندهار دخوا ورو ستی شاعران دی ، وائی چه شپاڅه تر ۱۳۵۰ هجری کال پوری ژوندی وو، ددوی خطی دیوانونه د (پښتو دادب) په لیکنه په پښتو تولنه کښی خوندی دی، حفیظالله چه (دقندهار) دی، عبیدالله چه دننگرهار دی، عبدالعزیز معلم چه دپښور دی، فضل شاه هم دیوان لری .

ددینی چارو لیکونکی : «مولوی حمیدالله» دراحت القلوب لیکونکی، محب الدین دقصیدهٔ بردی دپښتو مترجم ، ملاشرف په پښتو دقصیدهٔ بردی مترجم ، عبدالحکیم، دمعجزاتو، دکتاب

لیکرنکی، گل‌محمد، دضابطهٔ میراث جوړوڼکی ، محمدیار صاحب زاده دغوندانو چه لنډه شرح ئی تهره شوه، دقطب شاه دکیمیای‌سعادت‌لیکونکی، عبدالرحیم،دفایق‌الاخبار، لیکو نکی دی، لدی کبله نور هم ددینی اوقصصی کتابو لیکو نکی شته دی چه ټول دلته نشو شرح کولی لکه دهزار مسائل ، حقیقت اسلام، اوداسی ډیر مولفین ددغو کتابو یو فهرست په ۱۳۱۸ هجری کال دکابل، دمجلی په سالنامه کښی ښاغلی زمریالی خپور کړیدی چه دذوق خاوندان هغی سالنامې ته رجوع هم کولای شی .

ملی شاعران چه عشقی‌اونور اشعارلری : مگر بشپړ شرح حال ئی تراوسه زموږ لاسته نه دی راغلی :

ملامحمداکرم،دعبدالله محزون‌استاذ ؤ چه‌هغه یی د شاعرانو په‌دله کښی لیکلی دی، محمد کریم، حاجی‌اختر ، ملاعبدالرحمن سلیم بابا، سید کرم، شاه غلام‌صدیق، عبدالسلام قند هاری ، ملاخواجه محمد، ملا حفیظ، ملاباز محمد، ملانظر، سید محمود امیر نجم‌الدین،ملاعبدالعلی، ددغوشاعرانواشعار په (بهارجانان) کښی راعلیدی، اوټول دقندهار دخوادی ،

د گل احمد، سیدمیر، سعدالدین، زین‌الدین، محمد رفیق، داراشاه،اسلم شاه،خدای بخش،اکرم‌خان،قمرالدین،اعظم‌الدین میرزا محمد، ددغو لسوتنو شاعرانو اشعار په (بهار نوروزی) کښی شته دی، اوټول دپښتو دشاوخوا معلو مپږی !

سحر گل د«ننگرهار، میاگل دباجوړ، غریبی د ننگر هار دبټی کوټ، مخی‌د«ننگرهار» معروفشاه، منیرباش ، محمدشریف «دلسلپوری» پاچاگل دپښتور، زاهد خان، محمدحسین ، چه (دمیونی‌جاریته‌ئی جوړه کړی ده) سیدعباس، مهردل،غلام‌محمد ددو آپی، ذمین، سلطان، رمضان، فضل رحمان (دپښتور دی) ، یعقوب دلغمان،ملنگ، میرحضرت، آزاد خان ، مطهر،مسکین محمدمیر، سکندر شاه، جمعه‌خان و کامې ، تسلیم دهزار ناؤ، رستم د کونړ، بهرامی‌د«نگاو، گل دچپرهار، اونورهم د چاربیتو اوغزلو شاعران ډیردی چه ذکرئی دلته گران دی ( دپښتو ، دادب تاریخ ۱۱۵ - ۱۱٦ مخو نه )

د پښتو لخینی نور کتابونه ، چه لیکوال یی معلوم نه دی :

عنوان‌النصایح : داخلاق محسنی پښتو ترجمه ده خو مترجم ئی ندی‌معلوم،اویوه نسخه‌ئی دپښتور داسلامیه کالج‌دکتابخانی په فهرست کښی موجوده ده .

زینت‌النسا : دنعمان‌الدین کاکاخیل خا نمی تالیف کړی دی .

زما رسول پاك : داکتاب د «پیغمبراسلام» دکتاب پښتو ترجمه ده چه ۱۳٤۸ هجری کال په‌لاهور کښی چاپ شویدی اما مصنف ئی معلوم نه‌دی .

ددې دورې عالمان، بزرگان، او لخینی نور ادیبان :

مونږ په‌هره دوره کښی دلخینوعالمانو ، اوپښتومشرانواودفکر دخاوندانو ،احوال څه‌نه‌څه‌بیان کړیدی، نوپدې‌دوره کښی هم دلخینوعالمانو، اوادیبانولنډاحوال ترهغه‌ځایه‌چه موږته معلوم‌دی لاندی‌لیکل غواړو، لکه‌ددې کسانوکارنامی ،وینا وی د پښتنو په‌ادب کښی موثری‌دی

دسوات مولانا عبدالغفور صاحب :

دسوات آخون‌صاحب پکام صافی اود۱۳پیړۍ یوستر عالم روحانی‌مجاهد، اوبزرگوار شخصیت‌دی، اخون‌صاحب په۱۲۱۳ هجری‌کال) په‌سوات کښی زوکړی، اوپس له‌یوې موثری حیاتی دورې‌څخه چه‌پخپل محیط کی خصوصا اوپه‌ټوله‌پښتونخوا کښی‌ئی عموما، ډیری‌ستری اغیزی څرگندی کړی‌دی بیاپه (۱۸۷۷ع) کال‌وفات‌شویدی، دسوات‌اخون‌صاحب وروسته ترعلمی تحصیلاتو دشمالی پښتونستان په‌ټولو ځاو کښی گرزېدلی اودینی اخلاقی عقیدوی اصلاحات‌ئی کړی‌دی دده فیض اوعلمی پلوشی تردی اندازی بارزی اوهرگندې‌وی چه‌په‌ټوله پښتونخوا کښی‌ئی‌نفوذ اوروحانی اغیزی کړی، ډیرخلق دده د مریدی‌ په حلقه کښی داخل شول اوداستعمار دمتجاوزو قواؤ په‌خلاف ئی‌خورازوروری غزا گانی کړیدی حتی دجهاد روح دده د موثرو تبلیغاتو په‌وجه په‌پښتنو کښی خوراتقویه شوی او دپښتنو ډیرو شاعرانو لکه‌پایاب،ولی‌محمد اونورو، دده‌دمجاهداتودتوصیف په‌موضوع باندی اشعارویلی اودده لوړشخصیت‌ئی ستایلی دی ، دسوات اخون‌صاحب دټولی پښتونخوا لپاره ددین یوه څرگنده رښا وه چه‌ددغه رښا دپلوشو په‌مرسته ډیر و خلقو خپلی ورکی لاری پیدا کړی‌دی، ده‌دشریعت په‌مطابق په قوم کښی ستر اصلاحات کړی، اودابتداع خاوندان ئی یاسم کړی اویائی ورك کړیدی دده په شاگردانو، اومریدانو کښی هم‌خوراسترې‌پروند‌ه‌موجودوو لکه‌داډې‌صاحب، دموسهی اخون‌صاحب ، دکربوغی ملا صاحب دمانکی‌ملاصاحب دتیرا اوځیرې ملاصاحب م لامشك‌عالم‌صاحب اوداسی نور لوی عالمان او بزرگان دسوات اخون صاحب

---

دعبدالرحیم دفهرست له‌مخی، ترانه‌محفل ، یودپښتو کتاب دی چه‌یوه خطی نسخه‌ئی دپښتور، داسلامیه کالج په کتابخانه کښی خوندی ده ، داکتاب له ۱۳۳٦ هجری کال څخه پخوا لیکل‌شوی مگر مصنف ئی ندی معلوم .

شوکت افغانی :هم‌یو کتاب دی‌چه‌چه خطی نسخه‌ئی‌دپښتور داسلامیه کالج په کتابخانه کښی خو ندی‌ده مگر لیکونکی‌ئی نه‌دی معلوم .

دپښتو په‌مثنوی یومناجات ویلی‌دی، مگر له‌بده مر غه‌دې لوی پښتون پیشوا، اشعارزموز لاسته‌ندی راغلی ، دده مبارك مزار دسوات په(سیدوشریف) کښی‌دی چه‌اوس هم دپښتنو د اجتماع اودعالخای‌دی .

خلیفه‌ملافیض‌محمد : دی‌دموسهی په صاحب زاده مشهور اوخورا یوعالم اوفاضل اوپرهیزگارسړی‌ؤ دی دسوات داخون صاحب‌ماذون اودقادریی شریفی طریقه‌ئی چلوله، ملا فیض‌محمد اخون دامیرشیرعلیخان په‌زمانه کښی ژوند کا ؤ دی یو مجاهد روحانی اودډیرومریدانو خاوندؤ ،دی‌هرکله‌چه دخپل پیر پیروو نوله غزاسره‌یی‌ډیره مینه‌درلوده او په ۱۲۹۳ هجری کال ئی یوگوښی کتاب دروضة«المجاهدین» په نامه دپښتو په‌مثنوی نظم کړ، داکتاب‌ټول دجهاد دفضیلت په‌باره کښی لیکل شویدی چه‌داستقلال دساتلویودینی اوروحانی درس‌دی، داکتاب چه‌په پښتو کښی خوراقیمتی‌اثردی،سربیره دجهاد په‌فضیلت‌لحینی‌اخلاقی اوتبلیغی‌مضامین‌هم‌لری چه‌دمات‌دیووالی او دپښتنوداتفاق توصیه کوی اووائی :

همه‌واړه یووجود شی  په طلب کښی د مقصود شی

☆ ☆ ☆

دده‌شعرعالمانه اوساده‌دی اخون‌صاحب ډیرقرآنی آیات کریمه په پښتو ژبه ترجمه کړیدی دی مسلمانانو اوبالخاصه پښتنوته عسکریت‌اوتوری اوصاف‌بیانوی ،اخون‌صاحب په‌یوه ځای کښی هڅه‌ښه‌گړی اواخلاق چه‌یومسلمان‌سرلښکرته‌لازم دی بیان کړی نوپه‌لاندی کرښو کښی همدغه مضمون‌دده دکلام نمونه‌درښیو :

. . . . . .

په لښکر کښی چه‌افسروی  می باید چه دلاور وی
شجاعت لری کړ اروی  په‌صفونو کښی جراروی
هم‌عاقل هم مدبر وی  هم د یندارە مذکروی
دلسوزی لری ناصح وی  هم‌انصاف‌لری‌صالح‌وی
سخاوت لری ښه داد کا  له لښکرسره امدادکا
چست‌چالاك‌وی ثقیل‌نه‌وی  هم‌ظالم او بخیل نه‌دی
کبرجن او جاهل نه وی  بدکرداره غافل نه‌دی
له لښکر با خبر وی  په‌خپل‌کار کښی باهنروی
ستمگار اوبد خوی نه‌وی  هم‌پوچ خولی بدگوی‌نه‌وی
تپښته نه‌کاندی صابروی  به‌نعمت درب شاکر وی
له سلطانه طاغی نه وی  له الله نه باغی نه‌وی
دپاچا په‌خدمت راست‌وی  دالله‌په‌طاعت راست وی
نه‌شراب خوری‌نه‌زانی‌وی  نه‌رشوت‌خوری‌نه جانی‌وی
حکومت ئی سراسر  په کتاب‌وی برابر
داسی نه چه دولت ټول کا  دی‌خپل‌لخان وربانډې موړکا
عالم واړه در بدر گا  خپل‌مخ تور خاوری په‌سرکا

نجم‌الدین اخون زاده : دهډې په صاحب سره مشهور دی، دی یوروحانی اومتقی‌شخصیت‌ؤ، اودسوات‌دمولانا عبدالغفور صاحب مرید اویواځنی‌ماذون‌ؤ ، هډې‌صاحب دخورازیات شهرت خاوند اودخپل پیرپه‌څیر بولوی مجاهد اوپیاوړی غازی دی ، مولینا نجم‌الدین صاحب پکام‌نیك‌زی موسی‌خیل اندړ او اصلا د شلگر دگیرونیك‌زی‌دی، دپښتوټولنی په‌اثارو کښی یوه لیك وال اډې صاحب پکام کاکړ بللی ، اوداحدس یی اساس نه لری ، ښائی په‌کاکړو کښی‌هم دموسی‌خیلو پښه‌وی ،مگر هغه ببله‌ده اوداندړو موسی‌خیل، په‌لکن‌خیلو گډیږی، اولکن‌خیل داندړو له دریو طایفوڅخه یوه‌ستره طایفه‌ده چه‌دخانواری‌ شمیرئی دموسی خیلو په‌گډون و۱۲زرو کوروته رسیږی ، هغه‌څوك چه‌دپښتون ټبر په‌تاریخ‌باندی خبروی نوپوهیږی چه‌پښتنو کښی دطایفو نومونه شریك‌وی مثلا دجلال‌زی په‌نامه په‌اندړو ، سلیمانخیلو ، توخیو اونورو ټبرو کښی طایفی موجودی‌دی امادهرکام جلال زی ببل اوپخیل‌ټبرپوری اړه‌لری، دغسی‌هم‌موسی‌خیل په اندړو کاکړو احمدزوکی، اواحمد خیل ، احمد زی په وزیرو ، سلیما نخیلو اولخالخو کښی‌دطایفونومونه دی چه‌پنامه کښی سره شریك اما په قبیله کښی سره گوښی‌دی خلاصه‌ده‌دی اخون‌زاده صاحب هغه‌ستر مېړه‌دی چه‌ټول‌افغانستان ئی له ظاهری او باطنی شخصیت څخه برخه مونده لیده دنگاوملاصاحب «حمید الله» دښخاك مجددی حضرت صاحب دشینوارو صوفی عالم گل صاحب ، د سرکانړو میاصاحب‌دترنگزوحاجی‌صاحب،دچکنورملاصاحب‌دهډې‌استاذصاحب د اسلام پور میر صاحب جان پاچا او داسی نور ستر مصلحین دهډې‌صاحب مریدان اوماذونان‌دی ، د هډې اخون زاده صاحب څومودە په‌شلگر کښی تحصیل‌کاؤ بیادپښور ضلعی‌ته‌ولاړ اوپاته علوم ئی هوری ولوستل دسوات داخون صاحب پـه ار شاد مشرف شو کابل تـه راغی ، څو مـوده د کابل‌دتنور سازی‌ په جامـع جومات کښی په‌عبادت تېره کړه ، بیاډې دجلال‌آباد په (هډه) کښی هستوگنه غوره کړه او له هغه ځایه څخه‌یی ،دپرنگیانو غزاته ملاوتړله ،اوله انگریزانو سره یی دپرنگی دناوړه تقسیم په‌ضد چه‌پښتانه‌یی ددیورند د موهوم خط په‌واسطه په‌زورسره جلاکړل،سختی‌جگړې وکړی ، ترڅو چه‌دبرتانیی حکومت دهډې‌صاحب دلخان(لومړی‌)درجه د ښمن اوداستعمار ،مخالف اعلان‌کړ ،مولانا نجم‌الدین پس له سترو غزاگانو ،او دمشرقی ولایت له دینی اصلاحاتو څخه د ۱۳۱۹ هجری‌کال په‌شاوخوا په هډه کښی وفات اوهوری د فن شو چه چه‌مزاریی دخاص وعام‌مرجع دې ،دده‌مجاهدات پښتنو شاعرانو په‌چاریتو ، اوحماسی سندرو کښی ډیر ستایلی‌دی .

مانکی ملاصاحب : عبدالوهاب نومېدی ، دسوات دا خون صاحب مرید اوماذون‌دی اوډیرمریدان‌ئې لرل، ده داډې‌صاحب

سره لهینی علمی او روحانی مباحثی هم کړی ، خو دده مریدانو دامناظري دافراط له کبله ،په غرض حمل کړی اوله اصلی مقصد څخه ئی تېری هم ذکر شویدی .

ملاصاحب په پښتو کښی د(عقائد المومنین) په نامه یو منثور اثرهم ـ ری، چه دشروع خبری ئی دغه دی : « که چا درنه پو ښتنه وکړه چه بنده د چا ئی ، ورته وایه چه بنده د الله تعالی یم ، چه یودی ، شریك نه لری مخکی او آسمانونه یی پیدا کړی، ټول مخلوقات ئی پیدا کړی دی ، زه ئی هم پیدا کړی یم » داروان نثر په خیل حد کښی خورا فصیح او بلیغ دی چه زوائد هیڅ نه لری ، مانکی ملا صاحب په(۱۳۲۲) هجری کال وفات شویدی .

دکجوری ملاصاحب : ضیاءالدین نومیدی اودلغمان په کڅ کښی اوسیدی، خورا یوعالم ،متقی شیخ ؤ ،چه نسبت ئی د هډی صاحب سلسلی ته کښیزی ،ملاصاحب په پښتو اوپارسی کښی اشعار ویلیدی ، تخلص ئی (واعظ) دی، وائی چه دده په کتا بخانه کښی ډیر پښتو ،اوپارسی دیوانونه شته دی ،ده په پښتو کښی درحمان بابا پیروی کړیده تقریبا څلو پښت کاله د مخه و فات شویدی ، دکلام نمونه ئی داده :

مونځ هغه دی چه معنی ته ئی حضور وی
لکه داچه یی له خدا سره مذکور وی
هم ئی ښه قیام ،قعود په ښه دستور وی
چه دانه وی ښکته پورته به تش تورځی

☆ ☆ ☆

داسلامپور پاچاصاحب : شیخ میر «صاحب جان» پاچا دهډی صاحب په خطروان اوخورا زورروری غزا گانی ئی کړیدی ـ دی په اسلام پور کښی او سهدی اودکونړ د ساداتو د میر سیدعلی (پیر بابا) له اولادی څخه دی دی سربره په مشیخیت اوتقوا ، یو شجاع سړی هم ؤ، په مشرقی افغانستان اوپښتونستان کښی خورا مشهور ، او دمریدانو خاوند ؤ ، څو موده ئی دهډی لنگر هم چلاؤ ، غالباً په دوبی به کابل ته راته ، یو عسکر مزاجه سړی ؤ دمهمندو په اخرنی جگړه کښی ئی له پرنگی سره خو را سخت جنگونه وکړل ، اودشپی په یوه هجوم کښی ئی انگریز منظمی لښکری پو پنا او ډېره وسله ئی تړې ولجه کړه ، میر صاحب جان پاچا د ۱۴ پیړی ـ ددوهمی برخی په لومړیو کلو کښی وفات شو.

ملامشك علم اخون : نوم ئی «دین محمد» اوپه « مشك عالم» سره مشهور ؤ، په کام لکن خیل اندړ او دشلگر په « گنډهیر ) نومی کلی کښی اوسیدی ، یولوی عالم اودعلومو منتهی طالبان به دده په حلقه کښی شامل ؤ ، داخون صاحب په ملی مدرسه کښی به دبخارا ،فرغانی ، هرات ، قندهار، اوپښور طالبان اوسیدل، دی هم دسوات علیه الرحمه، مریدؤ، دپښتنو او پرنگی ،په دوهمه جگړه کښی ئی ستری غزا گانی وکړی، غازی جنرال «محمدجان» وردك دده په ټولو غزا گانو کښی ورسره ملگرؤ، اخون صاحب دجامراد له شباره څخه تر کابله پو ری له پرنگیانو سره دری څلور ستری جگړی وکړی ، د شبار جنگ ، دانغندی جگړه ، دغزنی دښار جگړه اوپه ټولو جگړو کښی یې پرنگی راپه مخه کړیؤ ، ترڅو چه ئی کابل ته راووست ، دلته یی هم دنورو ستروپښتنو غازیانو په ملگرتیا، آسه مائی،دشیرپور، دبی مارو دغونډی ـ او دمرنجان دتپی په محاربو کښی د پرنگی ډېر لښکری سټی کړې نو پرنگی امان تړې وغږښت او په ماتی ولاړ بیااخون او نورومشرانو دافغانستان دملت په خو ښه سره امیر عبدالرحمن خان پاچا اخون زاده صاحب په فقه، عربیت او حکمت کښی غوره اثارهم لیکلی ؤ مگرچاپ ته ندی ر سیدلی ، دی دامیر عبدالرحمن خان دپاچاهی ـ په دریم کال د ۱۳۰۰ هجری په حدودو کښی وفات شو ، اوپه گنډهیر کښی دفن شو .

قاضی عبدالقادر پښوری : په کام یوسف زی او د آریانا دمجلی ددوهم کال د ۳ گڼی پخواله دقاضی فضل قادر زوی او دخیل عصر یوفاضل پوهاند ،اومفکر سړی ؤ، ده په پښتو ،پارسی ، انگریزی لواردو ژبو کښی خورا مهارت درلود، او پدغو ټولو ژبو کښی لیکوال ؤ، دی دامیر شیرعلی خان مصاحب او عسکری مشاور ، منشی او داعلیحضرت شیرعلیخان په امر د (بنوونکی) په منصب سر لوړی ؤ ، دافغا نستان د ادبیاتو د تاریخ په قرار دښاغلی م «غبار» په قول قاضی عبدالقادر دشعری ذوق خاوند ، او دحربی کارخانو مشرهم ؤ، دی دعسکری و عظ نامو لیکوال او د«شمس النهار» اخبار چلونکی اودافغانستان دهغه عصر په ادبی اوعسکری تحولاتو کښی موثردی ،مگرده لومړی ـ پلا دهنه یانو په تقلید انگلیسی الفاظ ، دافغانستان په پښتو ،اوپارسی ژبو کښی راگډ کړل ، دقاضی اثاو چه دکابل دهغه زمان په مطالعو کښی چاپ شوینی ،عبارة دلاندنیو اثارو څخه دی :

لومړی ـ یوه مجموعه سره له یوې اوزدې مقدمې، دروس او عثمانی دجگړې پېښی، دبایمز آف لندن څخه ، ترجمه په (۹۰) مخونو کښی ، داکتاب په ۱۲۹۴ قمری کال د شعبان ۲ نېټه د «وعظ نامې» په نامه په کابل کښی خپور شویدی .

دوهم ـ اصول او عسکری قواعد ، له نقشو ، او د نظامی افرادو له تصاویرو سره د نظامی مشق او تمرین په حال کښی ، عسکری مصطلحات له انگریزی څخه په پښتو ترجمه ، د (وعظ) په نامه چه افسرانو به عسکروته وایه ، په (۷۹) مخونو کښی د مصطفاوی مطبعی چاپ .

دریم ـ دشهاب ثاقب (رساله) چه دوهبیانو په رد کښی لیکل شویوه اوپخپله امیر شیرعلیخان هم یوه شرح په نومورې رساله باندی لیکلی ده .

ملوړم د(ذخیرة الملوك) کتاب له‌یوې شر حی سره .

پنځم - د (برهنی فتاوی) کتاب .

شیږم - دپوستې ټکټونه، رسمی کاغذونه - وثایق ،اونوری نظامی تعلیمنامی دلومړی وعظ نامی له‌مخی داسی‌څرګندیږی چه‌نومورې‌یو چانخانو کښی د(وعظ) او (غلطنامی ) په نامه ، (مواعیظ) ،خارجی اوداخلی پېښی‌دوګړیو داطلاع لپاره ، طبع اوخپرېدلی .

دشمس‌النهار ورځپانې : دا ورځپانه د امیر شیر علیخان په زمانه‌کښی له ۱۲۹۰ هجری‌کال راپدې‌خوا په هره میا شت یوه لیا دوی پلا په شپاړسو مخونو کښی د قاضی عبد القادر په قلم دشمس‌النهار په‌مطبقه کښی د میرزا عبدالعلی په اهتمام دکابل له بالا حصار څخه خپریده اومندرجات ئی اجتماعی مقالی ، دا خلی او خارجی اطلاعات وۀ دم ، «غبار » په اصطلاح دا روزنامه (یعنی جریده) لو مړنۍ روزنه ده چه د باندنۍ نړۍ څخه دافغانستان دخلقو داستفادې لپاره پرانستل شو یده اوبالطبع دوګړیو دتنویر لپاره خورا ستره‌او مهمه و سیله وه «شمس‌النهار» څوکاله پرله‌پسی خپلو خپرونو ته دوام ورکړی دی (دکلونو شمیر نه دی معلوم ) خلاصه ، قاضی عبد القادر ، دامیرشیرعلیخان ددورې په‌علمی اوادبی و پښتیا ، اودپښتو ژبی دژوند په‌نهضت کښی‌لویه برخه لری ، بالخاصه دعسکرو دتعلیم اوپوهولو ،دپاره‌یی ډېر خدمتونه کړیدی ، اوددی مرام‌له‌املې ډېر انګریزی کتابونه ، اوانګریزی قوماندې په‌ډېره‌خوزه لهجه په«پښتوژبه»ترجمه کړیدی، ددغه وخت، زیاتره عسکری کتابونه یاد قاضی تالیفات دی ، اویا دده په نظریه اواصلاح کولو سره جوړ شویدی ، مګرله بده مرغه هغه کتابونه ټول ورک‌شویدی ، یوازی یو کتاب ئی چه‌دپلیو دقواعدو او قوماندو په‌باب کښی‌دی اوس هم موجود دی، د نمونی په ډول ئی یوځو مثالونه پدې ځای کښی لاندی‌لیکو :

«لومړی کار دلاس - ورو قدم - قدم اوزد - پښه په‌ځای - وروتګ - جوړول‌د دلګی - په یوستوی‌صف - درېږ - قدم‌لنډ- قدم‌پشا - په‌ورو- ژرقدم - ګرزیدل په وقت د تګ- سم‌ودرېدل په‌وقت‌دودرېدو - تګ‌په‌غبرګ- زنګون کېښودل - یوقدم‌پشا » .

سید جمال الدین افغان : دسید صفدر اسعد آ بادی کنړی زوی په۱۲۵٤هجری‌کال ۱۸۱۸ع‌کال په«کونړ» کښی په‌نړۍ ستر ګی رونړی کړی‌دی، اوپه۱۳۱٤هجری‌قمری‌کال په استامبول کښی وفات شو سید جمال الدین نه یوازی د افغانستان خورا لوی‌سیاسی شخصیت دی‌بلکه په تېره پېړۍ کښی دافغان تبر خورا ستر پوهاند ، فیلسوف ،خطیب ، لیکوال همو ، دالوی شخصیت (خپل سرنوشت له‌یوه ښار څخه بل ښارته ښاړو ) اما په‌عین زمان کښی د مشرقی نړۍ له‌اشهر مشاهیرو څخه ګڼل کېږی ، سید دتولد له ورځی تر ۱۲٦۱ قمری پوری په کنړ کښی هستېدی اوپه ۱۲٦۲هجری‌کال کابل‌ته‌راغی، اوتر ۱۲۷۱ قمری پوری دلته‌مقیم پاتی‌شو ، اوپه ۱۲۷۲ قمری کال له خپله هیواده څخه، هند، عراق، حجاز ،اوسوریې‌ته په‌مسافرت کولو مجبورشو ، ده هرځای خپلو تحصیلاتو ته دوام ورکړ ، خو په ۱۲۷٤ هجری کښی ئی بېر ته افغانستان ته اځه وکړه او په کابل کښی‌مقیم‌شو ،په۱۲۷۹ هجری‌کال دامیردوست محمد خان سره‌هرات ته‌ولاړ ، اوله هغه وروسته تر ۱۲۸٤ هجری قمری پورې د امیر شیر علیخان ، امیر محمد افضل خان ، او امیر محمداعظم‌خان په‌دربارو کښی پاتی‌شو ، سید پدې مهال کښی دافغانستان دترقی‌نوی‌پلان‌دمعارف دتعمیم ،دزراعت دپرمخ تګ دصناعت ، تجارت او دموکراسی اداری جوړولو نقشه ، طرح کړه ،اما ده په‌نتیجه کښی‌د۱۲۸۵ هجری کال په شاوخوا کی افغانستان دمایوسی په‌وجه پرېښود ، اوله‌وطنه دنړۍ د سیاحت په‌هیله روان‌شو ،سید جمال الدین له‌هغی زمانی څخه د مرګ ترساعته پوری ، افغانستان، فارس ، هندوستان، مصر ، ترکیه اونور عربی ممالك داسلامی اتحاد له‌سیاست ، او دموکراسی اداری ،اودنړۍ دنوی تمدن منلو ،اودغرب له‌استعماری سیاست سره‌آشنا، او دمقابلې لپاره ئی سوق کړل- سید جمال‌الدین په عین‌زمان کښی دسترو غربی دولتو په استعماری سیاست کښی څوځو ځله مداخله مکړه ،اود اروپا په ټولو سیاسی ټولنو ،او مجلسو کښی‌ئی‌خورازیات سیاسی اوعلمی شهرت ځانته‌حاصل کړ سید که څه هم پخپل ژوند کښی د اسلامی مملکتو په اتحاد ، اوداستعمار دشنډولو په چاره کښی له‌آسیا او افریقا څخه بشپړ کامیاب نه شو ، او دده دغه ناکامی هم خورا زیات علتونه درلودل ، خوبیا هم‌دخپلو شاګردانو اونویو افکارو د ترزیق په‌ذریعه چه‌په‌شرق کښی‌عموما ،اوپه‌افغانستان ،مصر، تورکیه ، پارس کښی ئی‌خصوصا له‌ځان‌څخه پرېښودل ، داستعمار مانې‌ته‌ئی د خپلو رشیدو شاګردانو په واسطه داسی شدید او سخت چړکونه ورکړل چه په‌نتیجه کښی‌داستعمار اواستثمار بنسټ له بیخه متزلزل ،اوبیاځی داستعمار مانې رانسکوره کړه .

دسیدجمال الدین هډوکی پس له(٤۷)کلو څخه چه دمړینی څخه‌یی تېرشوی وو‌له‌استامبول څخه بېر ته افغانستان ته‌راوړل شول،اوپه‌خورا تجلیل‌او احترام سره د۱۳۲۳ هجری‌شمسی‌کال (۱۹٤٤ ع) دشنبه په ورځ دجدی ۱۰ نېټه دکابل د ښار په نوی برخه کښی خاوروته وسپارل شول، پښتنو دده په‌قبر باندی یو پوخ‌عمارت و دان کړی اواوس هغه‌برخه دښار (جمال‌مینه) بولی

دسید اثار دادی : ۱- تتمة البیان فی تاریخ امة الافغان چه له‌عربی څخه په‌ډیرو ژبو ترجمه شویدی ۲- البیان فی‌الانگلیس والافغان ۳- ردعلی دهریین ٤- مقالات جمالیه ٥- عروة الوثقی دده‌سیاسی، اجتماعی مجله ٦- (ضیاء الخافقین) د نامی ماده دبستانیی په‌دایرةالمعارف کښی اوداسی نوری ډیری مقالی چه دمصر ،فرانسی په‌مطبوعاتو کښی ئی خپری کړی دی .

دسیده‌ورنیږ ژبه پښتوده، فرانسوی‌یی به‌لږه موده کښی زده کړی‌وه ، عربی یی علمی اودلیك ژبه‌وه - په‌تورکی ، پارسی کښی ئی‌هم‌مهارت درلود،څکه‌دده له‌هغو لیکونو څخه چه‌دده په قلم په‌ایرانی مطبوعاتو کښی‌خپاره شویدی ، څرګندپښی چه سید په‌پارسی ژبه کښی هم‌دلیك او کتابت بشپړ قدرت درلود - دسیدجمال‌الدین ځینی‌رشید شاګردان په‌مصر، افغانستان اوپارس کښی دغه منوړین دی :

مصر: عبدالسلام مولیجی‌پاشا ، امام محمد عبده ، ابراهیم لقانی‌پاشا، عبدالله ندیم ، علی‌مظهر ، ستر ادیب اسحق افندی ، علامه محمود طرزی‌پښتون، اوایرانی‌سیدجمال‌الدین اسدآبادی، او داسی نور مصریان ، تورکان ، پښتانه ، پارسیان وائی چه سید داستعماری سیاست په‌ضد، دشرقیانو دپوهولو په‌چارودا‌سی مصروف وچه‌دتالیف او تصنیف‌فرصت ئی نه‌درلود ، که‌دانه‌وای نوده ډیر ګټور اثار هم لیکلی وو.

حاجی محمداکبر : په‌کام‌هوتك اودقندهار یومشهور پوهاند اوشاعر اواديب ؤ ،دی دامیرشیرعلیخان په‌دوره کښی (۱۲۷۹ - ۱۲۹٦ ه )ژوندی‌ؤ ، او۱۲۹۸ هجری‌کلو په شاو خوا کښی له وطنه‌جلا ،اوپیاپه۱۳۰٤ هجری‌کال پیرته‌قندهارته‌راغی او هوډی وفات‌شو ، محمداکبر په پښتو کښی خورا ښه اشعار و یایدی ، ځینی‌اشعار یی‌یاته‌دی ، له‌هغی‌جملی څخه یومنظومه عریضه ده چه‌دامیر عبد الرحمن خان حضورته ئی لیکلی وه ، حاجی دپښتو دکتابو یوه ښه کتابخانه درلوده ،اود (پټی‌خزانی) خطی نسخه هم‌دده په غوښتنه په ۱۳۰۳ هجری کښی نقل شوی ده ، ددغی نسخی له‌څخه د(پټی‌خزانی) مهم کتاب په کابل کښی داعایحضرت ظاهرشاه په‌دوره کښی چاپ شو .

ملاغلام‌جان : دلغمان‌یولیکوال او دامیرعبدالرحمن په‌دربار کښی دپښتو منشی ؤ ، دی دوه منثور اثار لری چه یوئی‌دامیر عبدالرحمن خان دولتی سوال اوڅواب دی ، بل ئی دهغه پاچا نصیحت‌نامه ده، اودواړه دغه مرحوم‌ملاغلام جان منشی په پښتو ترجمه کړیدی چه چاپ شوی هم‌دی ، دملاغلام جان نور احوال تردی‌نېټی پوری لاسته نه‌دی راغلی .

مولوی‌حاجی عبدالرازق‌خان اندړ : حاجی عبدالرزاق خان دهیواد ،یوسترعالم اوپښتون محدث اولیکوال‌دی،ده دغزالیاره ډېر کو ششونه کړیدی . اوپدی لیار کښی خورا ربړ، اوډېر تکلیفونه هم ګاللی ،حاجی‌صاحب د خپل عمر په‌اخر کښی فرصت پیاموند چه‌وزیرستان ته‌ولاړشی او هوری‌ئی دوزیرو ، مسعودو دمجاهدکام په ملګرتیا سره د برتانیې له سترو قواؤ سره یوه سلسله جګړې وکړی، حاجی عبدالرازق خان دډېره موده دامیر عبدالرحمن خان‌اوامیر حبیب‌الله‌خان په‌زمانو کښی دکابل په شاهی مدرسه کښی داحادیثو درس لوست ،اودمیزان التحقیقات مشر هم‌ؤ ،ده«سراج‌الاحکام» نومی کتاب په‌تالیف کښی زیاته برخه درلوده، اواساس القضات‌یی‌هم دنوروعلماؤ په ملګرتیا سره‌بشپړ کړیدی‌چه دادواړه کتابونه په‌اسلامی فقه، اوشرعی‌معاملاتو کښی دهمی‌دورې‌ستړې‌شرعی‌وثیقی‌دی،حاجی صاحب دسراج‌الاحکام په تالیف کښی له‌عالمګیری‌فتاوې، بحررائق،قاضی‌خان‌اودمختارځخه ډېره اخستنه کړی‌اونومورې کتاب‌هم‌دعالمګیری‌فتاوی په‌اساس لیکل شویدی ، د حاجی‌عبدالرازق خان ځینی اثار دده له زامنو څخه بناغلی عبدالرحیم‌خان معین‌اومولوی عبدالرب‌خان پخوانی رئیس‌تمیز سره‌په‌خطی‌دود، موجوددی چه چاپ ته ندی رسیدلی دحاجی‌صاحب دپښتو مقالې اومنثور لیکونه ، ځینی دینی خطابی مخصوصا دده د وزیرو، د غزاګانو له وخته ، خو را جذاب او دلیکوال ستراستعداد تری‌څرګندپښی حاجی عبدالرازق خان په‌قدیمه ریاضی علومو کښی لوی‌لاس درلود ، یواسطرلاب ، اودکابل د «نصف النهار دایره» چه دیوې فلزی ګردی تختی پرمخ باندی کښلی‌وه دده له‌اثارو څخه، دحاجی‌صاحب له زامنو سره شته ده .

مشهور صوفی عبدالحمیدخان د وطن لوی تخنیك پوهاند ، په‌ریاضی فنونو کښی‌دحاجی عبدالرازق‌خان ، رشید شاګرددی، حاجی‌صاحب یو متقی ، دیندار ،مجاهد ، سترعالم اویو پښتون لیکوال همؤ، دی دامانیې دوری په‌لومړنیو کلو کښی ، دکابل په‌دافغانانو کښی‌وفات اومړی یی دشلګر(جان‌آباد) نومی کلی ته‌نقل اوهوری خاورو ته و سپارل شو .

مولوی عبدالرؤف خان‌کاکړ : دامیر عبدالرحمن‌خان‌اوامیر حبیب‌الله‌خان د دربار یوپښتون عالم او دمحقق قندهاری (حبو) اخون لمسی کېږی ،دی په‌عربی علومو کښی ستر پوهاند ، او په عربی ، پارسی او پښتو کښی د اثارو خاوند دی ، مولوی عبدالرؤف خان‌دقرآن‌حافظ اوپه‌ادبیاتو کښی دلوی‌لاس‌خاوندؤ دسراج‌التواریخ کتاب دده ترنګرانیږ لاندی‌لیکل‌شوی دی ، ده دتفسیر افغانی په نامه د قرآن کریم یو پښتو تفسیر شروع کړی‌ؤ، چه نا تمام پاته شو، یو بل‌کتاب ئی دکچکول په نامه لیکلیدی چه دمتفرقواومختلفو مضامینو مجموعه ، اودپښتو برخه هم‌لری ، مولوی صاحب د ۱۳۲۳ هجری کال په شاؤ خوا کښی

دسراج الاخبار لومړی مؤسس او مدیرؤ ،اوپه ۱۲۲۳ هجری کال وفات شو .

غلام‌محی‌الدین افغان : اصلادقندهار ،اویوپښتون ښوو نکی اولیکوال‌ؤ، ده‌دپښتونستان په‌شاؤخوا مځکو ،مخصوصا پښور کښی تحصیل کړی‌دی ،افغان دامیرحبیب‌الله‌خان په زمانه کښی ژوندکاؤ اوپه افغانستان کښی د لومړی‌ځل دپاره د دارالمعلمین مدیر و تاکل شو .

دخان‌صاحب پښتو اشعار کوم چه‌په‌سراج الاخبار کښی چاپ شویدی خورا روان اوخوندور دی ، افغان د پښتو ژبی دادب په نوی‌تحریك کښی لومړنی حقدار برښی اوپه ۱۳۳۹ هجری کال وفات شوی اودشهداءالصالحینو په حظیره کښی دفن شویدی .

دافغان دکلام نمونه داده :

زړه زماپك‌دی‌له‌مینی‌دوطن  خپل‌وطن‌ماته‌عزیزدی له‌خپل‌تن
چه‌دچاپه‌سرسودادوطن‌نه‌وی  سر دده دی مستحق د بریدن

دعلم او کمال ستاینه:

بی کمال‌دباکمان‌کله‌همسردی  هم‌قیمت‌کله‌گوهرسره حجردی

ملامحمد افغان نویس : په‌کام صافی، دامیر عبدالرحمن خان اوامیرحبیب‌الله‌خان په‌زمانو کښی دحضور عرض بیګی ؤ ، دی دپښتو منشی‌اوپه‌افغان نویس‌سره‌مشهور ؤ، ملامحمدخان د پښتو مرکی افتخاری غړی اوپه سراج‌الاخبار کښی ئی ځینی‌اصلاحی اشعار نشرشویدی ـ دده لاسلیك دپښتو مرکی په ځینو کتابو کښی لیدل کېږی، دپښتو دادب دتاریخ له‌مخی وائی چه دی یوپښتو خطی دیوان هم‌لری مګرلیدل شوی‌نه‌دی،ملامحمدأخان په ۱۳۰۵ هجری کال وفات شویدی :

پیرمحمد منشی : داسړی هم یوپښتون لیکوال او د قلم خاوند دی، ده له‌انګریزی‌څخه ددکتور «جیمز کنتلی» یواثر په‌پښتو ترجمه کړی‌دی چه (قیبانوته هدا یتونه ) پکښی لیکل شویدی نومورې اثر په (۱۹۱۰ع ) کال په‌لاهور کښی چاپ شوی‌دی منشی پیرمحمد په(پاراچنار) کښی دیوه‌منځنی ښونځی سرمعلم ؤ، ددې ترجمی په اول کښی د (سګمات نسکریف) نومی انګریز نوم هم دده له‌نامه سره ضمیمه‌دی ، مګر جوته داده چه داکتاب ټول دپیرمحمد ترجمه‌دی اوددغه انګریزنوم په‌کوم بل‌مناسبت ورسره یوځای شویدی .

قاضی عبداللطیف : دی دیوې علمی کورنۍ پوهانه غړی اودسوات د(کالوچ) نومی ځای اوسېدو نکی دی، ده د تفسیر تیسیر په‌نامه په‌پښتو دوه جلده کښی یو تفسیر لیکلی چه‌لومړیء جلدئی په۱۳۳۹هجری کی تمام شوی او هغه ئی دسوات والی ته مغسوب کړیدی داکار ئی د پښتو لپاره یولوی خدمت ګڼل کېږی .

سیدمحسن : سیدمحسن دامیرحبیب‌الله خان په زمانه کښی دقندهارددارالحفاظو مدیر ؤ، دی په‌عربی پارسی اوپښتو کښی لیکوال دی ـ ده دقندهار دمزاراتو په‌شرح کښی د څوزروبیتو په‌اندازه یوه رساله په‌پښتو نظم جوړه کړی ده، وائی چه ده په پښتو اشعارو کښی روانه طبع درلوده، سیدمحسن په ۱۳۴۱ هجری‌کال په قندهار کښی وفات‌شوی اوهوری خښ دی .

محمد یعقوب فراهی : دی دفراه نورزی دی چه په ۱۲۸٤ هجری کښی زوکړی اویوستر پوهاند، دپښتواوپارسی ژبوغټ ادیب ؤ، دفراهی آثار په‌پارسی کښی زیات‌دی ، ځکه نومورې دمرحوم سردار نصرالله خان دپارسی دادبا ؤ، په ډله کښی ؤ، اودوخت تراغېزې‌لاندې راغلی ؤ، ده دپښتو دخالصو لغاتو یو کتاب لیکلیدی چه‌نیمګړی تری‌پاته شویدی، دی دښی قریحی اوستر استعدادخاوند اودپښتوله‌سترو شاعرانو څخه ګڼل کېږی دده دکلام دنمونې یوځوبیتو نه دادی :

زه عاجز بنده د خدای یم  تل په حمد و په ثنا یم
خپل معبود په‌دارنګ ستایم  ثنا ستا ده لویه خدایه
چه خاکی ادم پیدا شو  پیغمبر په دی دنیا شو
په صفت دارنګ ګویا شو  ثنا ستا ده لو یه خدایه

دپښتوپه‌موضوع باندی دختیځ‌پوژندونکو (مستشرقین) اثار اوکتاب لیکنی :

☆ ☆ ☆

داځرګنده ده چه د، دیارلسمی پیړۍ په شاوخواکی چه دمحمدزو دسلطنت دوره ده ، اروپائیانو دافغانستان اومحکوم پښتونستان مځکوته لارپیدا کړی اوله‌هغې نېټی څخه راپدېخوا هغو لیکوالو اوځینی مغربی پوهانو چه‌له پښتنو سره‌ئی دتماس په اثر پوژنګلوی پیدا کړی اوپه دې ترڅ کښی دپښتو ژبی ګرامری اوادبی پراخوالی ته ځیرشویدی، هرکله‌چه‌هغوی ددې ژبی لسانی استعداد لېدلیدی، نودوی هم له‌یوی خوا پدغه ژبه (پښتو) خورا ډېر اوهرډول کتابونه لیکلیدی،اوله بلې خوائی ځینو لیوالو دپښتو دځینو لیکوالو،پوهانو، شاعرانو کتابونه دشعر دیوانونه، له‌ځانو سره ، لندن، لیدن، لینن ګراد اونورو ځایونه وړی،اویوه برخه‌ئی دا، اوس، اوس‌دلندی په انګریزی موزیم کی خوندی، ده .

که‌څه‌هم داروپائی ختیځ پوژندونکو (مستشرقین ) دا زیار زحمت په زیاته داستعماری دولتو دمربو طینو لیکوالو اثار، له‌سیاسی، استعماری اغراضوڅخه به‌هم خالی نه‌وی ، مګربیاهم دهغوی په ډله کښی داسی کسان هم موجود، دی چه یوازی دپوهنی اوبشری کلتور په‌لحاظ ئی دپښتو ادب اوګرامر ته خدمت کړیدی ، لدی، کېله دزیاترو «ختیځ پوهانو» اثار

اودزیار نتائج قهراً دپښتو دادبیاتو جزء اوددی ژبی دتاریخی او«کلتوری» پانګی داهمیت پەمورد کی دقدر اوستا ینی وړدی لحکه : آشنا رحمی نکردامادل بیګانەسوخت. پەدې استدلال پر موزلازمه شوه چه دهغوی اثار ترهغی اندازې چه موږ لیدلی لیاترې خبرشوی یو، دپښتو دادب په ضمن کی یادکړو، اودهغو لیکوالو چه دپښتو دادب، لغاتو، په موضوع باندې کتابونه لیکلیدی قدریی وکاندو :

الف : د مستشرقینو هغه کتابونەچەپه پښتو ژبه ئې لیکلیدی :

---

گولډن شتید : دآریانا دمجلی دلومړی کال د ٦ ګڼی لەمخی، داسې، یوجرمنی مستشرق دی، چەده د لومړی ارو پائی لیکوال پەتو ګه دپښتو دلغاتو پرموضوع یو کتاب لیکلیدی داکتاب یه ۱۷۹۱ عیسوی کال په (پترزبرګ) کی چاپ شوی ، اما اوس نه پیدا کیږی .

کلاب رات : دپښتودګرامری ساختمان په باب کښی یوکتاب لیکلی دی چەمستر (دورن) ایدنی اووائی چەنومورې اثر لەغلطی ګانوڅخەډک دی، داکتاب هم په(۱۸۱۰ع) کښی چاپ شویدی .

برناردوورن: داروسی بوهاند دپښتو دیوه لغت لیکونکی دی چەدا دلغت کتاب ئی په۱۸٤٥ع کال په (پترزبورګ) کښی چاپ شویدی، اویوبل اثر ئی دپښتودمنظومو اومنثورو کتابونو انتخابات دی چه( کریستوماتی آف دی پښتو) ئی نوم دی .

راورټی : یومشهورانګریزمستشرق دی، راورټی پـه پښتو کښی دپرآثارلری، اودپښتودلغاتو یولوی کتاب ئی لیکلی دی چه په (۱۸۵٦ع) کال په لندن کښی چاپ شویدی دەدغەوخت دپښتو پەصرف اونحو کښی هم یو کتاب تالیف کړی دی ده ددې ګرامر پەمقدمه کښی دپښتواو پښتنوشاعرانو په باره کښی هم پر معلومات لیکلیدی، راورټی دپښتو له پخوانو کتابونوڅخه دنظم اونثرڅو منتخبات هم راغونډ کړی او د(ګلشن روه) پنامه ئی خپاره کړیدی دپښتو د(محاورې) په نامه یوبل اثر هم لری اوپه پښتو کښی داسیې حکیم قصه هم دده ترجمه ده ، داترجمه په۱۸۷۱ع کال په لندن کښی چاپ شویده

راورټی : دپښتودخصوصیاتو ، اوادبیاتو په باب کښی هم یو کتاب لری چەچاپ شویدی دی وائی چەترما وړاندی میجر «لیچ» او کپطان (وکهان) هم دپښتو و اړه واړه ګرامرونه لیکلیدی .

کایګرالمانی: دپښتو پەفیلالوژی کښی په(۱۸۹۳ع کال) یوه رساله لیکلیده، اودپښتو لغاتئی له اوستا، اوسنسکریت سره مقابله کړیدی .

هانری والتر بیلیون : یوانګلیس لیکوال دی چه په پښتو کښی یی دوه مهم کتابونه یولغت اوبل، ګرامر لیکلی دی چه په (۱۸٦۷-۱۸٦۸ع) کال په لاهور کښی چاپ شویدی .

توما نووچ: یوروسی مستشرق دی چەدپښتو ګرامر او فرهنګ یی په روسی ژبه لیکلی دی او په(۱۹۰۸ع) کال هغه په تاشکند کښی چاپ شویدی .

ترومپ: جرمنی دپښتو یو ګرامر لیکلی چه په (۱۸۷۳ع کال ) په لندن کښی چاپ شویدی .

واهن: دپښتود ګرامر لیکوال انګریز دی ، داکتاب په (۱۸٦۰ع) کال په لندن کښی چاپ شویدی .

وډغن : دسواتی دګرامر دمقدمې په روایت ده هم د پښتو یو ګرامر لیکلیدی .

لادیمیر انګریز : دپښتونخوا ، اودوزیرو لهجی د پښتو ګرامریی لیکلیدی چەدواړه په لندن کښی چاپ شویدی .

کوکس: انګریز دۆدپښتو ګرامر ئی په۱۸۱۱ع کال په لندن کښی طبع کړیدی .

دارمستتر : فرانسوی مستشرق دپښتو دادبیاتو پر موضوع باندی د(پښتونخوا دهاروبهار) په نامه په(۱۸۸۸ع) کښی چاپ کړی دی، داکتاب دوی برخی لری، لومړی برخه ئی د پښتو فقه اللغه، اوفقه البصوت دی، اودوهمه برخه یی د پښتو سندری دی

سی،ای بیدولف: انګریز دخوشحال خان اود (۱۷ پیړی) داشعارو یه نامه یوکتاب دادب په موضوع کښی لیکلی دی چه په (۱۸۹۰ع) کال کښی چاپ شویدی .

هوکس: دپښتو یو ګرامر لیکلی دی چەمستر بیدو لف ئی ستاینه کوی .

روس کیپل: انګریز یو ګرامر د پښتو لری چه(۱۹۲۲ع) کال کښی ئی په لندن کښی چاپ کړیدی نومورې یومنول پښتوهم لیکلی دی .

ګلبرتهسن: دەدپښتو د محاورې لغات ټول کړی اوپه ۱۹۲۹ع کښی یی چاپ کړیدی نومورې د پښتو ژبی په نامه هم یوکتاب لری .

پادری هیوز: ده دپښتو دپخوانو اشعارو انتخابات کړیدی دهیوزاثر «کلیدافغانی» نومیږی چه په غټو توریو اوښه خط ئی په لاهور کی چاپ کړیدی .

مارگن سټېرن : یو ناروېژی پښتو پالونکی ختیځ پوهاند دی، مارگن سټېرن خاص‌دپښتو داتیمو لوژی (علم اشتقاق) په موضوع‌باندې دعلمی‌نظرې لرلو‌په‌غرض خورا‌پخی سټېرنی کړی ددې‌مستشرق په‌ذریعه دمیا روښان دخیر البیان لخینی برخی‌هم مونږته‌خر کندې شوېدی نوموړی تېرکال کابل‌ته هم راغلی‌ؤ اودکابل راډیو په‌ذریعه‌ئی دپښتوداهمیت په‌باره کی یوه پښه ویناهم پښتونوته‌برودکاست کړه چه دقدر وړوه‌مارگن سټېرن یوبل‌کتاب دخوشحال‌خان پراشعارو باندی هم لیکلید ی اوس داوسلو د ارلعلوم دپښتو ختیځ پوهانداوژوندی‌دی .

مالیون: یوختیځ پوهاندی چه‌ده دپښتوقصې ټولی کړیدی.

اوالډ: دپښتو‌پرموضوع باندې یو کتاب لیکلیدی چه‌مونږ ندی‌لیدلی .

گرارسن : هم‌دپښتوژبی په اصالت باندی ځېرنه کړی اویو کتاب‌ئی لیکلیدی .

برتلزروسی : برتلز یو معاصر ختیځ پوهاند دی چه‌دپښتو دجوړښت په‌موضوع‌ئی یواثر لیکلیدی .

وې‌هانری: دپښتود مطالعاتو په نامه یواثر لیکلیدی چه دبلومارت په‌فهرست کی یاد شویدی .

پښتومجموعه: دایو کتاب دی چه دلندن دمه زیم دفهرست له‌مخی‌هوری شته‌دی مگرددې اثرمولف نه‌دی معلوم ، وائی چه دغه‌مجموعه‌دالاندنیو برخی لری .

۱ ـ دپښتو گرامری قواعد ۲ـ د پښتو داشعارو نمونې
۳ ـ دمخزن الاسلام اورحمان بابا د دیوان‌لخینی ښکلی ټوټی
٤ـ دپښتولغات چه‌ترجمه ئی انگریزی ده ۵ ـ دپښتو (الف با) د(ویل) له‌مصدرخخه ددې مصدر خخه دافعا لو اشتقاق اودصیغو گردان‌یی احتمال لری‌چه دا مجموعه دکوم یوه مستشرق په‌قلم لیکل‌شوی ، امانوم‌ئی نه‌دی یاد شوی .

ب : دپښتو هغه قلمی کتابونه چه‌ارو پائیانو مستشرقینو له افغانستان اوپښتونستان خخه په مختلفو ټپو له‌خانو سره وړی او د «بریټش موزیم » دکتا بخانی د فهر ست له مخی په هغه کتابخانه کی په خطی بو ټه خو ندی شویدی ، پېژنگلوی او نومونه ئی‌په‌لاندی ډول لیکل کیږی :

۱ـ نافع المسلمین : یوه مو ز و نه رساله ده چه په دویځو (مثنوی) کښی د تصوف په‌موضوع لیکل شویده ، دنظم ډول‌ئی لخینی دوېځی‌لنډې، اولخینی یې اوږدې جوړی‌شوېدی‌مضامین ئی دزهد اوریاضت په‌باره کی ارشادات افاده کوی ،مذهبی مراسم اوداخلاقو سلوك ، عقائد ،فقه ،دقرآن تفسیر ،احادیث،تقوی په ساده او روانه پښتو ژبه بیانوی ـ کتاب د اخوند گدا تالیف دی او دبریټش موزیم دکتا بخانی په فهرست کی تر«٤٢٣٦ لمبر» لاندی قیدشوی دپانو شمېر ئی۱۷٤ پانې هرمخ ئی۲۰ کرښی لری دمخونو سور اوږده‌ئی ۱۰ انچه × ٦ ۱/۲، او هره کرښه‌ئی ٤ ۱/۲ انچه‌ده‌دا کتاب‌په‌دغه‌بیتوشروع کیږی:

به نامه دهغه خدای‌می دا کتاب دی
چه‌یو نوم ئی‌په‌نو مونو کی‌وهاب‌دی
نه ثنا ئی مدام وایم په ژبه
چه‌می بیاموند شه‌توفیق له‌خپله‌ربه

لخینی‌شرح لیکونکی ددې اثر دمولف نوم (گدا) بولی ، اولخینی وائی(گدا) دده تخلص دی مگرمحضه نوم‌ئی نه یادوی وروستنی کتابونه لکه د پښتو ادبیاتو تاریخ ، پښتانه شعرا ، بایزیدروښان ، اونور لیکوال هم د(گدا ) اصلی‌نوم ندی‌ذکر کړی ،اوبریټش‌موزیم دفهرست مولف هم‌د(گدا ) له‌اصلی‌نامه خخه بابیز تېرشویدی ،نوډې باوه کښی لږدقت لازم شو :

د گدانوم : دهغی سخی له‌مخی چه دمطبوعاتو په کتا بخانه کی موجوده‌ده او۱٤۳ پانې لری مگرر (نورمحمد) ذکرشوی چه(گدا)ئی‌لقب دی، دده دغه کتاب ٥٤ بابونه‌لری، اواخوند گدا تقریباًدهرباب په اخر کی خپل نوم‌راوړی‌دی لکه‌چه‌وائی :

« نورمحمد (گدا) بیان په پښتو و کړ»

ددې کتاب دالف له دوو‌پانو خخه څرگندیږی چه (گدا) خپل کتاب دشاه حسین(۱) هوتك د پاچا هی‌ر په دو ره کښی

۱ـ شاه حسین‌له ۱۱۳٦ هجری‌خخه تر(۱۱۵۰هجری کال) پوری په‌قند هار کښی پاچا و په ۱۱۵۰ هجری چه نادرافشار قند هار محاصره کی ، شاه حسین له ( ۱۱۵۰-۱۱۵۱ هجری) پوری له خارجیانو سره جگړې وکړې او محاصره ئی یوکال پوره وگالکه، ده په‌ډې موده کړهم دافشار په ضد دهرات له پښتنو سره مرسته کوله ،اوهم ئی‌دقندهار محاصره کلکه وساتله په‌پای‌کی چه پښتانه ، په تفرقه اختەشول‌او له‌هیڅ طرفه دکمك‌میله نشوه پاته‌په‌تسایم مجبورشول، پدی‌حساب شاه‌حسین (۱۵) کاله پاچاهی کړیده ،لیکوال دنو موړی تولد پس له (۱۱۰۰هجری‌خخه) بولی. شاه حسین دافشار له خوا له کور‌کهول سره مازندران ته تبعیدشو، اوهوری (مازندران) دافشار دمامورینولەخوا د شعبان په ۱۰ نېټه (۱۱۵۲ هجری کال ) مسموم شو ـ دشاه‌حسین دمرگ زېری نادر افشار ته‌هغه مهال ورکړ شو چه‌له‌ډهلی خخه ببرته‌سندته‌را گرزېدلی‌ؤ ، نو داسی څرگندیږی چه دنافع‌المسلمین کتاب د (۱۱۳٦- ۱۱۵۱هجری)کلو په منځ کی‌لیکل‌شوی‌دی ـاواخونددې‌خپل کتاب‌وجه‌تسمیه‌داسی‌بیان کړیده ، داکتاب چه‌می پښتو کړی‌نافع دافغانان دی‌نورمحمد په‌گناه پوره ورحمت ته امید وار

چه داسپرا تورشاه محمود کشرورورد ی اودحاجی میرویس خان زوی ،
لیکلیدی څکه گدا وائی : چه دا کتاب تالیف شه ...

په دا اوس وخت پاچاهی دشاه حسین وه دلدار
چه دده ورورشاه محمود وُچه پادشاه داصفهان وُ شه تاجدار
نور محمد په زمان د شاه حسین کتاب جوړ کړ
شریعت بیانوی د ساده افغان د فار

په هرحال دلندن دموزیم نسخه، دکابل دمطبوعاتو له خطی نسخی سره دومره فرق لری چه پدې نسخه کی څینی اشعار شته چه دلندن په نسخه کښې ئی ذکر ندی شوی ،اوهم د بابونو په ویش کی تفاوت سره لری ، دکابل دمطبوعاتو د قلمی نسخی خطاط اعظم دین با بی د شاه علم دین زوی، نپټه د دو شنبه میا شت محرم الحرام ۱۲۹٤ هجری کال او دلندن نسخه په ۱۸۹٦ عیسوی کال په لاهور کی چاپ شویده .

داچه ښاغلی معروف دلندن موزیم دفهرست مترجم داخوند گدا د اخوند درویزه پلار گڼلی دی ـ زما په عقیده لکه چه سهوشویدی څکه گدا دقایم خان پښتانه سردار مرثیه ویلیده او د پښتانه شعرا دلیکونکی په عقیده دسدوزو په زمانه کی لا ژوندی و گدا وائی :

د تاریخ حساب ئی بلغ العلی دی  له دنیا په دی تاریخ بلندمکان ولاړ

نو (بلغ العلی) د ابجد په حساب ( ۱۱۱۲ هجری ) کال دقایم خان دمرگ نپټه راښئی ، حال داچه اخوند درویزه په (۱۰٤۸) کال مړ شویدی نوځرگنده شوه چه اخوند درویزه ددې اخوند گدا زوی نه دی اودنافع المسلمین مولف « نورمحمد گدا» تر اخونددرویزه ورو سته تیر شویدی لدی کبله گدا په نافع کښې لیکی : هغه مطالب چه اخوند درویزه په مخزن کی راوړی وُ ، دنافع المسلمین په کتاب کی له هغو نه صرف نظر شو یدی .

د پښتانه شعرا روایت چه گدائی د سدوزو په زمانه کی ژوندی گڼلی،صحت نه لری ،په هرتقدیر داخبره د څېړنی اوزیات دقت وړ ده .

داخوند درویزه مخزن الاسلام : دبرتش موزیم دکتابخانی دفهرست په سلسله نمبر ٦۲۷٤ دپانو شمیر ۱۷۳ دمخ اوږدوالی ۸ انچه × ۵ ۱/۲ انچه ،سطرونه ۱۳ طول دهرسطر ۳ ۳/٤ انچ .

الف : مندر جات دب ۲ مخ : دالف ۸ د فاتحې او اخلاص سورة ( دقرآن مجید دلو مړی سورة نه تر ۱۱۲ پوری ) او عربی دعا گانو سره د پښتو ترجمې .

شروع : کل آغاز دنیك چار په نامه دحق (بهتر) دی
بی مثل بی مانندی (ترجمه) عقلو دی بردی
هرچا چه کړی (آغاز) دحق نوم ته پریاد نکړ له اول .

ب : دالف ۸ مخ . دالف ۱۵ لومړی بیان د یوې عربی (الامالی) نومی قصیدی موزون تفسیر دی چه د محمدی (ص) آئین داختصار په باب دسراج الدین علی ابن عثمان الفرغانه ئی له خوا لیکل شوی دی.

مقدمه ئی په لاندی عربی عبارتونو شروع کښی :

الحمد الله الغنی الذی افتقرالیه وا نات باسر هم الی تفهم بینهم من احوال ضمایرهم ثم اخص الانسان الی افتقار الی ذالك لکونه حاملا لودیعته تعالی والصلوة. چه تفسیر او پښتو ترجمه یی داسی شروع کښی :

په نامه دحق آغاز کړم  اوس له دی علم کلام کړم
دی رحمان الرحیم خدای دی  بل چا رحیم شی تمام

پدې نسخه کی وروسته تر (۹) پانې یو تش ځای هم شته دی .

ج : دالف ۱۵ پانه ـ دالف ۳۷ ، دوهم بیان دنعت په باب د (برده) په نامه دیوې عربی قصیدی تفسیر دی چه د عبدالله محمد ابن سید ابوصیری اثر دی ،پارسی دیباچه ئی په لاندې ډول شروع کښی :

بیان دوم در تسهیل قصیده برده که جمله تصانیف امام همام رحمة الله علیه علی الدوام محمد بوصیری علیه الرحمه والغفران است .

پښتو ئی داسی شروع کښی :

په نامه دحق به وایم چه دحق له برکته په قیامت می بخره وشی در سول ثنا به وایم خو په ماویل شی .

د : دالف ۳۷ پانه دالف ٤۸ ، دریم بیان یوه شرحه ده چه په هغه کی د ۷۲ غیر متدینو او ملحدو فرقو په باب دهرې فرقې دعقیدو خصوصیات ښودلی شوی دی، پارسی یی داسی شروع کښی :

بیان سوم اندر آنکه چون ملت های با طله به هفتا دو گروه رسیده وهر کدام ایشان به یك اعتقادی از مذهب سنت وجماعت جدا شده اند .

پښتو یی په دې ډول شروع کښی :

دهرځیز اصل ثابت دی څنگه نوم
باندی اغیزی هم په عقل راکښووزی

ه : دالف ۲۸ پانه ـ دب ۵۸، څلرم بیان .

داکتاب دلطف الله کیدانی دعربی خلاصې د تالیف اختصار اواجمال دی چه په (۸) بابو کی داسی شروع کښی :

بیان چهارم در تیسیر آوردن خلاصه کیدانی تا بر جمله عوام الناس از افغانان او اسپل آید وبه هر کس ازو بهرهٔ دینی برسد ... بسم الله خدای دی کارساز دکل عالم دی د بندگان رحمن قهرمان دی .

و : دب ۵۸ پانه ـ د الف ۷٦ پنځم بیان چه په دری فصلو نو وپښل شوی دی :

لومړی فصل د څلورو مقالو ترجمه (عقیده) د ضیاء الدین امام محمد شامی دعربی آثارو څخه چه پدې ډول شروع کښی :

بیان پنجم مشتمل برسه فصل‌اول درادا کردن بعضی عقائد های که ازعقیدهٔ ضیاءالدین امام محمد شامی منقـول کـر دانیده بالفاظ افغانی آورده تاافغانان‌رافائده‌کلی باشد،لومړی‌عقیده:

گندې څوک‌دی و پوښتی چه ایمان له‌شریعت اسلام الاحسان سره څه‌دی .

دوم‌فصل : دنجم‌الدین‌عمر ابن‌محمدالنسفی‌دعربی اثر ترجمه ده چه د۱۲ رافضې فرقو په باب لیکل شوی ده پـار سی ئـی داسی شروع کېږی :

فصل دوم اندر آنکه حضرت شیخ امام‌الانـام مفتی الجن مولانانجم‌الملة‌والدین عمرالنسفی‌رحمةالله علیه‌الرحمه در رساله خود آورده است :

پښتوترجمه ئې داسې شروع کېږی :

امام‌عمر نسفی هسی‌ویلی مبرهن‌دی چه صوفیان دحق دوستان دی هم دزړه په‌پاک‌کردن دی دابرخه ( له ۱۳۵ - ۱۴۰ مخ ) په‌ګـلشن روه‌کی هم چاپ شوی‌ده او د دورن په کرستو میتی نومی کـتاب (۲۴ - ۳۳ مخ) کښې هم نشر شوی ده .

دریم فصل : رساله‌ده دکلام‌الله شریف‌دسم اوصحیح تلاوت په‌باب چه دپارسی اصل‌عبارت ئې دادی :

فصل‌سوم اندرآنکه قرآن‌را ازروی‌خواندن جهل و نادانی بلا ادای مخارج حروف واعراب خواندن ازمنهـیات است ، او پښتوئی داډول شروع کېږی :

دښه خدا ی ثنا به وا یم څو می توان وی په‌تائین چه‌قرآن راستولی‌پرسول دی ،

ز : دالف ۷۶ پاڼه دب۹۲ شپږم بیان :

یوه شرح‌ده دمذهبی اصطلاحاتو دښودنی او ترجمی په‌باب چه دعربی د(الف‌با) مطابق ترتیب شوی ده . پارسی بی پـه لاندی ډول شروع کېږی :

بیان‌ششم اندرآنکه بعضی‌ملحدان درین ایام از حرو فـات تهجی چیزی تقدیر می کرده و تاویل می‌نموده. پښتوئې داسی شروع کېږی :

الف: اسم دالله‌دی له ټکی مبرادی هر چه‌په‌دا اسم مشغول شه هغه سالك الی‌الله‌دی .

ج : دب ۹۲پاڼه دب ۱۱۷ - دوهم بیان - په ۲۳ نکتو کی دسنت‌اوجماعت داهل‌دمذهبی دودونو ، اوعقائدو دښکاره کولو اوتفسیر څخه عبارت دی :

پارسی شروع ئی دا ډول ده :

بیان هفتم در بیان نکات که بعضی چیزها که معتقدات مذهب سنت وجماعت را ازدانستن آن نا چاری است به الفاظ افغانی آورده شود :

ږ تو ئی داسې شروع کېږی :

دایمان‌زده کول‌فرض‌پر آدمیان چه‌ایمان نه‌پېژنینه،هغه‌دی‌کافران .

ظ : دب ۱۱۷ پاڼه - دب ۱۳۵، اتم بیان .

شرحه‌ده‌دبایزید انصاری‌اودهغه دځامنو په باب دجلال‌الدین دمړینی‌اوروښانیانودډلې دمشر په‌حیث‌دهدا دتربیدابنت‌پوری ، دا فصل په‌پښتو اوپارسی دواړو ژبو باندې لیکل شوی دی .

پارسی ئې په‌لاندی ډول شروع کېږی :

باب هشتم درذکر ملحدی که‌سبب شده‌است در تالیف این کـتاب را چنانکه درسرنامهٔ کـتاب گفته ایم بدان ای فرزند که عبدالله نام شخصی درحدود قندهار ... الخ پښتو ئی په دی ترتیب شروع کېږی :

واوریء یا رانو پاك نبی‌هسی ویلی چه اخره زمانه شی ، ګمراهان به پیدا کېږی په هرکلی دا اته بیانه او دعا ګـانی چه په مقدمه کی لیکل شوی‌دی داخوند در وېزه شخصی اثر بلل کېږی (انجام)

اکـشردین می جمع کړیدی په داکښې بل غاړدشی خلاصه لکه م فهم باند وکړاې طالب په‌اخر چه‌می تمام کړدی په مثل خزینه دی ځکه مائی نامه مخزن‌الاسلام کړه .

ددې اثر په‌پای کی هغه‌پارسی دوه پارچی چه دکتاب دختم په‌باب کی دی زیاتی شوی دی - چه دوهمه پارچه ئـی د پښتو ژبی د«الف با» په‌نسبت یاد داشتونه لری دکـتاب په پای کی دکـتاب دجمع کولوله کـبله‌اخوند درویزه د ځوی عبدالکریم ذکر راغلیدی .

تمت کـتاب : مصنف را وجامع را بدعای ایمـان یـاد فرمایند، وباید دانست که‌جامع‌این‌فقیر کـثیرالتقصیر عبدالکریم ابن مخدوم درویزه است .

ددې اثرسره‌دالاندی خیزونه یوځای شوی اوزیات‌شوی دی.

اول : ۱۳۵ پاڼه ب ۱۵۲ - دمذهبی اصطلاحاتو یوبل‌لست دی دالف بـا، په‌ترتیب سره، دهریوه دتفصیل چه د شپږم بیان څخه وروسته لیکل‌شوی، اوددرویزه‌دځوی کریم داد په‌واسطه ترتیب شوی‌دی، اوددعبدالحلیم له‌خوا پرې ( چه دعبدالله ځوی او ددرویزه لمسی دی ) ملحقات زیات کـړ ی شوی‌دی چـه دبایزید دملحدانه‌تعلیماتو په‌ضدمذهبی ارشادات او طعن آمیزه خبری لری اوپدې ډول شروع کېږی :

اې چه ته وائی طالبه چه شهږ به چېرته او سی، ځای‌ئی زړه دی ولی نور ورخبر نه‌یم چه دازړه به چرته اوسی .

دخلاصه شوی الف‌با، پوره او کامل متن‌په‌دې لاندې نسخه کی لاس‌ته راځی دالست د(ظ ) ترحرف پوری رسېد لیدی او وروسته ترهغه د(م) او (و) حروف ضبط شوی دی چه پر هغه دعبدالحلیم دملحقاتو یوه برخه زیاته کړ شوی ده چـه د (ع) په حرف شروع کېږی .

( دب ۱۵۰ پانې - دالف، ۱۵۸ پانې ٤ لمبر )

دوهم له ۱۵۳ - ۱۷۳ - څه مقالې دی د مذهبی عقیدو، اومقرراتو په باب چه د کریم داد په واسطه لیکل شویدی ، دعبدالحلیم دلیکنو نه وروسته، اوددې برخی په لومړۍ بر خه کی د۱۵۳ پانې څخه پس تش ځای شته دی .

ددې نسخی مضامین،عناوین په لاندې ډول دی: ورق ۱۵۳ب : امنت بالله وملایکته وکتبه، ورسله والیوم الاخر ولقدر خیره وشره (۱) والبعث بعدالموت .

| | |
|---|---|
| ورق ۱٦٤ ب | در بیان واجبات اسلام |
| ورق ۱٦۵ الف | در بیان سنت اسلام |
| ورق ۱٦۵ ب | در بیان احکام شریعت |
| ورق ۱٦۵ ب | دربیان حیض ونفاس |
| ورق ۱٦٦ ب | در بیان مفسدات نماز |
| ورق ۱٦۸ ب | مخمس (للجمل) افغانی |

پرله پسی لمبر ٤۲۳٤ - ۱۵۰ پانه۱۱ انچه په اوه نیمو انچو کسی، دکرښو شمیر ۱٤ دهرې کرښی او زدوالی $\frac{3}{4}$ ٤ انچه ۱۸ پیرۍ (جی دارمستتر)

دمخزن الاسلام یوه بله نسخه ده چه په لاندې ډول شروع کیږی:

| | |
|---|---|
| په نامه دحق اغاز کړم | اوس له حق سره به راز کړم |
| دی رحمان رحیم خدای دی | دطاعت قدم بساز کړم |

عربی مخ کښی دعا کانی چه په پخوانیو نسخو کی په ترتیب سره راغلیدی دلته بیا په هغه ترتیب نه دی نیول شوی، دپنځم بیان دوهم اودریم فصلونه چه په دې نسخه کښې اول او دوهم فصل په ترتیب لیکل شویدی، دعربی دعا کانو څخه وروسته راغلی دی ( ٦ پانه او۱۲ پانه) وروسته تر پاسنیو فصلونو د مذهبی رسومو په باب دکریم دادلیکنی شروع کیږی ( چه دپخوانی یوولسم ویل شوی جزء څخه مراددی) مختلف موضوعات ئی دالاندی عنوانونه لری :

| | |
|---|---|
| ورق ۱۹ | دربیان اداب مبرز رفتن واستنجا ممنوعه ونواقص وضو |
| ورق ۲۰ الف | دربیان ممنوع و پاك کردن جامه |
| ورق ۲۰ الف | دربیان شکنندهٔ وضو |
| ووق ۲۰ ب | دربیان تعداد ایام شهور شمسیه |
| ورق ۲۰ ب | دربیان تعداد اقدام شهور مذکوره |
| ورق ۲۱ الف | دربیان تسهیل آوردن مسئله خزانة الفقه ازباب حیض و نفاس |
| ورق ۲٤ ب | دربیان استحاضه و احکام آن |
| ورق ۲۵ ب | دربیان نفاس واحکام آن |
| ورق ۲۹ الف | دربیان باسم سبحانه تعالی در معانی امنت بالله |
| ورق ۳۸ الف | دربیان واجبات اسلام |
| ورق ۳۸ ب | دربیان سنت اسلام |
| ورق ۳۸ ب | دربیان احکام شریعت |
| ورق ۳۸ ب | دربیان مفسدات نماز |
| ورق ٤۰ الف | دربیان نمازجنازه |
| ورق ٤۰ ب | مخمس افغانی |

دریم اوحلورم بیان د(الف٦۵ اودب ۷۳ پانه) دفصل په نامه یادکړی شویدی اودپنځم بیان کی دب ۲۸ پانې د شپږمی کرښی څخه وروسته په همدغه دوهمه برخه کی اودمقالی (عقیده) ددریم جزء په هره برخه کښی تش ځایونه شته دی .

دکریمداد پوره اوښپږ الف با (لسم جزء چه پخوا تپر شویدی )دالف۱۱۵ پانه دب ۱۲۹) او همدارنګه یو پارسی یادداشت هم ورسره شته دی ... دانسخه دپخوانیو نسخې په شان دوه اپیلاګه هم لری خود عبدالکریم دنامه په ځای د کتاب دټولونکی له حیثه په هغی کی دکریم دادنوم ضبط اوقید شویدی

تمت هذه النسخة المبمونة المبارکة الشریفة المخزن اسلام بلسان الافغانیة مصنفه شیخ المشایخ دروزه قدس سره العزیز .

ومعلوم باد که جامع تالیف این کتاب کریم داد بن مخدوم دروزه قدس الله سره العزیز میباشد ، تمت تمام شد .

ددې نسخی لیکونکی دعبدالرحمن اوشیر محمد غوره اوعبرت آمیزه اشعارچه پنداو نصیحت لری (۱٤۵-۱۵۰ پانې) په نومورې نسخه باندی ورزیات کړی دی .

پرله پسی لمبر۳۹٦ -۱۷٦ پانې، یوولس انچه دکرښو شمیر ۱٤ دهری کرښی اوزدوالی $\frac{3}{4}$ ٤ پنځه دانسخه په ښکلی خط لیکل شوی ده (۱۹ پیرۍ) (هملتن)

دمخزن اسلام بله نسخه چه د ترتیب او ټولونی له حیثه ئی متن د تپرې نسخې په شان دی :

دمذهبی آدابو، اورسومو په هکله دکریمداد د لیکنو برخه (دالف۲۱ پانه دب۳٦) په دې نسخه کې تقریبا په اختصار سره قید کړی شوی ده ، هغه برخې چه د(آمنت بالله) دمعنی او مخمس نه وروسته شروع کیږی حذف کړی شوی دی .

دکریمداد، دالف باجدول سره (دب۱۳٤ پانه - دب ۱۵۷) داخوند درویزه لمسی محمدعلیم ملحقات چه یوازی څو لومړۍ پارچې ئې په پخوانیو نسخه کی موجودې دی یو ځای کړی شوی دی .

---

(۱) په موجوده فهرست کی چه ترجمه تری شویده وروسته تر ( والقدر خیره وشره ) لکه چه پاس لیکل شویدی د (من الله تعالی) کلمه نشته، داجمله یاله چانه پاتی شوی اولیادقلمی نسخی څخه چه اصل ده داکلمه سهواً لویدلیده .

ددې نسخې داتم بیان پارسی برخه لری کړی شویده ، ددې نسخې پای کټمټ لکه ددوهم لمبر نسخې په څېړده چه پخوا موئی ذکر و کړ، اودعبدالکریم نوم د کتاب د ټولوونکی له حیثه پکښې قید کړ شوی دی .

(د Add ۲۷۳۱۲ پانې ۲۹۰ اته نیم انچه، په پنځه نیمو انچو کی د کرښو شمیر له لسو نه تر دوولسو کرښو پورې د هری کرښی اوږدوالی دری نیم انچه (۱۷ پیړۍ) (دنکان فوربز ) دمخزن اسلام بله نسخه چه داسی شروع کېږی .

کل آغاز دنېك چار په نامه دحق بهتر دی

بی مثل بو مانند دی ترجمله عقلودی بر دی

دا نسخه دپنځم بیان په دوهم فصل شروع کېږی چه پخوا ترهغه دمقدمې په توګه خوشعره په کښې ویل شویدی ، عربی دعاګانی چه معمولا به ترمخه راتلې، پدې نسخه کې دلومړی بیان ( دالف ۶۳ او دالف ۷۱ پانې) او د کریم داد مذهبی آداب، اورسمونو په باب نوشتو څخه وروسته لیکل شویدی .

(دالف ۲۴، دالف ۶۳) دریم بیان د (ب ۱۱۸ پانه) دریم فصل په نامه ویل شوی دی اوپنځم اوشپږم بیان دباب په نامه یاد شوی دی، دمحمد حلیم ملحقات په دې نسخه کی په پوره او کامل ډول شته (دالف ۲۵۹-۲۷۲ پانې) د کریمداد الفبا د لومړی جدول سره دپخوانیو نسخو په څېړیو ځای کړی شوی دی په دې نسخه کی د ۲۶۲ پانې څخه وروسته لیکل شویدی .

ددی نسخې په پای کی راغلی دی چه ددې نسخې ټولونه اوترتیب عبدالکریم دجمعې په ورځ دمحرم په ۲۱ دهجری کال په ۱۰۲۴ دفروری په ۲۰ = ۱۶۱۵ع کی پای ته رسولی دی چه دادی دهغه دپای څو کرښی په لاندې ډول رانقل کېږی :

بایددانست که جامع این تالیف فقیر کثیر التقصیر عبدالکریم بن مخدوم درویزه است قدس الله سره العزیز ، قدوقع الفراغ بن جمعیة هذالتالیف و استکتابه یوم الجمعة فی تاریخ احدی وعشرون من المحرم الحرام فی الف و اربعة وعشرون مت بالخیر .

وروسته ددې نسخې په سراو آخر کی څو څو صفحی لیکل شویدی، دلومړی مخ په حاشیه کی یو یاد داشت لیکل شویدی چه وائی : دا نسخه د ۱۱۸۶ هجری کال د جمادی الاول په پنځم (۱۷۷۲ع) په صاحب مرهټی باندی په ځلورو ،روپو خرڅه شویده

والحاصل د کتور لایدن دمخزن الاسلام په باره کی داسی لیکی:

مخزن الاسلام چه اصلی لیکوال ئی آخوند درویزه دی عبارة له یوه متنوع الموضوع کتاب څخه دی څرګند پېږی چه دمخزن الاسلام (۹) فصلونه یا بیانونه پخپله ددرویزه په قلم لیکل شوی او نظم شویدی ، یوه مقدمه ئی په پارسی یوفصل ئی د کتاب تمهید اودعربی دعاګانو، قرآنی آیاتو تفسیر دی، داهم دمصنف په قلم لیکل شوی، مګرورسته ترهغه دکریم داد د مصنف زوی اوملا صغر دمصنف ورور اوعبدالحلیم د عبدالله زوی د آخوند درویزه دلمسی له خوا د کتاب حجم زیات شوی دی ، اوپه پای کی ټول کتاب دعبدالکریم د آخوند درویزه دبل زوی له خوا، ټول کتاب په ۱۰۲۴ هجری کال د (۱۶۱۵) میلادی مطابق بله پلا ترتیب شویدی (لمبنی پښتانه لیکوال عبدالکریم او کریمداد دیوه سړی نوم ګڼی، ښائی چه دغسی هم وی) مګر عبدالکریم د آخوند درویزه زوی د نامتو علماؤ له ډلی څخه ؤ - پښتانه شعراده ډېر مناقب ذکر کړی او خلاصة البحر دمحقق افغان لقب ورکړیدی، خزینة الاصفیا او دعلمای هند تذکرې هم دنو موړی تعریف کړی، وفات ئی په ۱۰۷۲ ه کې واقع شوی دی، او دمخزن الاسلام دیوې نسخې له مخې دعبدالکریم لقب ( امام الدین بابا) ؤ، چه عبدالکریم شهید هم یاد شویدی عبدالحلیم داخوند لمسی پس له زرم هجری ئی ژوند کا و شاعر هم دی په مخزن کی ئی اشعار موجود، دی ملا اصفر داخوند در ویزه ورور هم دعالم خاوند و ، اوپه علمی مباحثو کی به له اخوند سره حاضر و ، درویزه ئی ملا اصفر غازی بولی میا نور محمد دعبدالکریم زوی، اومصطفی محمد دنوموړی نور محمد زوی دعبدالکریم لمسی دی، خواخوند درویزه په مخزن الاسلام سربېره نورمولفات هم لری چه دځینو نومونه ئی دادی لومړی تذکرة الابرار والاشرار، په ۱۸۹۱م کال په پېښور اوپه ۱۸۹۲ کال په ډهلی کی چاپ شوی اودتالیف نېټه ئی ( ۱۰۲۱ هجری له ۱۶۱۲ میلادی سره مطابق) دی بدې کتاب کی در ویزه دپښتنو دنژاد اواصلیت په باب کی څېړنه کړی اوهم ئی دمتدینو اوملحدانو په مورد کی بحثونه لیکلیدی .

۲ - ارشادالطالبین داخوند بل اثردی چه داسلامی اخلاقو پرموضوع لیکل شویدی اوپه ۱۳۱۰ هجری - د ۱۸۹۳ میلادی مطابق په لاهور کی چاپ شویدی .

۳ - دالامالی عربی کتاب شرح ده چه په ۱۸۹۱ او ۱۹۰۰ عیسوی کی په لاهور کی چاپ شویدی .

ر شید بیان : د برتانیې دموزیم مسلسل لمبر ۵۸۸۸ د پانو شمېر ۹،۶۱ انچه دپانو طول، دا اسطرونو لرونکی د هرسطر اوږدوالی $3\frac{1}{2}$ انچه (۱۸ میلادی پیړۍ) (بادری هیوز)

رشید بیان په پاس لمبر او شکل سره یو تعلیمی اومروج کتاب دی چه موضوع ئی د دینی مسائل دی اود عبدالرشید له خوا نظم شویدی، دبیان ژبه ئی اسانه اوعام فهمه ده ، داثر دماشومانو اوښځو لپاره خورا ګټور کتاب دی ډېر ځلی هم چاپ شویدی اوپه دی بیتو باندی شروع کېږی

بس له حمده له صلوة دارنګ وایم زه وتاته

چه طلب دعلم فرض دی ددین علم لکه قرض دی
په پښتومی دین بیان کړ ستادپاره می آسان کړ

عبدالرشید دکتاب په اخر کی داسی وائی چه‌دی دسلطان حسین زوی اوفاروقی قریشو ته منسوب دی، ده په‌لنگر کوټ کی هستوګته‌درلوده، مور اوپلار ئی په ملتان کی او سیده ده خپل کتاب په ۱۱۶۹ هجری کال دمیلادی ۱۷۵۶ مطابق لیکلیدی - دکتاب په اخر کی داسی وائی :

چه‌می‌غم له‌خاطر ورک‌شو له‌فکرو نو می زړه سپک شو
اوس‌سلام‌دی وی یا رانو پر جمله ؤ مو منا نو

رشیدبیان دمبتدیانو درسی کتاب دی چه دپښتنو په اکثرو مسجدو کی‌ئې‌ماشومان، اولویان لولی،عوام ددې کتاب اشعار یادوی اودضرورت په‌وخت کی په‌هغو استناد کوی .

فوائدالشریعه : دبرتانیی په‌موزیم کی په نمبر ٤٤٨٩قید، دپانو شمیرئی ۱۱/۲۰۰ په ۷ انچو، سطرو نه ئی ۱۷ ، دهر سطرطول ١/٤ ٤ انچه (۱۸ پېړی) ( میجر راورټی )

فوائدالشریعه یومروج کتاب دی چه دمذهبی ضر و ریاتو پر موضوع لیکل شوی او۸۲ بابه لری ددې اثر مولف اخوند محمدقاسم اصلا دسوات دی دانسخه پدې پول شروع کېږی :

عجب نورؤ پیداشوی دسرورله خانه دانه
و افغان ته را ختلی دتر مذ‌له پاکه کانه

میجر را ور ټی پخیله پښتو مقدمه کښې وائی : د فوائد الشریعه کتابی یو خو را قیمتی اثر دی چه داخوند قاسم په واسطه‌په۱۱۲۵هجری‌د۱۷۱۳میلادی‌کال‌مطابق لیکل شویدی اخوند قاسم دپښور داشنغر اوسېدونکی او پوټن عالم او روحانی شخص و، دد ې اثر په لو مړی برخه کی مصنف ځان ابوالقاسم دعبدالله‌زوی لیکلیدی او اثر ئی خوشو ځلی په ډهلی اوپښور کی چاپ شویدی ددې کتاب منتخبات په ګلشن‌روه او کریستو میتی کی دپادری‌هیوز، اومستر دورن لخوا لیکل شوی اوخپاره شویدی دلندن خطی نسخه ئی دحیدرشاه نومی په ذریعه استنساخ شوې ده . نمبر ۲۸۹۳ دپانو شمیر ۱۳/۷٤۰×۸ ، انچه دهر مخ کرښی ۱۳ انچه ، تاریخ پښور ۲۸۸۵ع ( پادری هیوز )

تاریخ مرصع : په‌پاس‌لمبر دبرتانیی په‌موزیم کی‌خوندی‌دی،

دا متن دپښتو ژبی د نثر خورا مهمه‌نمونه اود افضل خان خټک داشرف خان‌زوی دلوړشخصیت دخوشحال‌خان‌خټک‌دلمسی‌اثردی، دافضل‌خان پلار اشرف خان هجری هغه مهال چه دخیل ورور بهرام‌خان‌دسیسی په‌اثر په۱۰۹۶هجری‌کال‌د۱۶۸۳میلادی‌مطابق دمغلیه حکومت له‌خوا نیول‌شو اودبیجاپور په‌محبس کی‌بندی‌شو، پخیله مولف افضل‌خان۱۷ کلن زلمی و ،اودکم سنی‌په‌وجه ئی ونه شوای کولی چه‌دپلار په‌ځای د خټکو دکام مشر توب و کړی خوهغه وخت چه‌اشرف خان په‌بیجاپور کی‌وفات‌شو ، نو افضل‌خان په ۱۱۰۵ هجری‌کال دپلار په‌ځای دخټکو دکام خان وټاکل‌شو، په‌هرحال‌دافضل‌خان‌تاریخ‌مرصع داسی‌شروع‌شویدی:

«باسمك القدوس‌سبحان‌الله‌وبحمده: پاکی‌ده هغه‌خدای تعالی لره چه‌زمام ئی داختیار اوداقتدار ، په قدرة کامله سره د خلقت انسانی په‌جناب گردون اقتدارئی دپاد شاهانو عالی تبارو ته سپارلی‌دی » .

تاریخ‌مرصع په‌لوی سرکی دمخزن‌افغانی پښتو ترجمه‌ده چه هغه‌مخزن افغانی تاریخ‌خانجانی هم‌بولی،مخزن افغانی دپښتنویو تاریخ‌دی چه په ۱۰۲۰ هجری‌کال‌د۱۶۱۱عیسوی‌مطابق په‌پارسی ژبه دنعمت الله‌هروی‌په‌قلم لیکل‌شویدی،مګر افضل خان‌دمخزن پرخپله ترجمه دیوسف زو په‌باره کی‌یوه شرحه هم زیاته کړی، اوهم ئی دخپل خټك خانه‌دان مفصل تاریخ خصوصاً دخپل نیکه خوشحال خټك احوال په‌هغه‌پوری ورتړلپدی .

دکتاب مولف‌پس‌له‌یوې‌اوزدې‌مقدمی چه‌په‌هغه کی‌ئی شوشو پښتو اوپارسی منظومی شم‌ښودلی‌دی ، کتاب ئی‌په‌دری بابه‌او اوه‌دفتره وېشلی‌دی (۱۵ - دب‌پانه) چه‌په اخر کی لومړی باب ۱۹ پانه دالف ۲۳ دالف

تاریخ یعقوب اسرائیل

دوهم‌باب ۲۳ پانه‌دالف

دطالوت پاچاتاریخ- اودپښتنو دمهاجرت‌سرحد دغورمملکت ته‌دسلیمان دغرو له‌سلسلې څخه دریم باب ٤۲ پانه د الف ٦٥

دحضرت خالد بن‌ولید تاریخ دحضرت عمررض د خلافت تر پایه پوری، اول‌دفتر ٦٥ پانه - دسلطان بهلول‌لودی اوسلطان سکندر اوسلطان ابراهیم تاریخ د و هم د فتر ۱۱۹ پانه ۲۳۷ دالف دشیرشاه سوری،اسلام‌شاه ، عادل‌شاه‌په‌عدلی‌مشهور تاریخ تردې‌حده‌پوری‌تاریخ مرصع یوالخی عبارت له‌هغې ترجمې څخه دی چه‌د نعمت‌الله‌دمخزن افغانی لومړی‌برخه‌ئی‌را اخستیده ( دپښتنو تاریخ لومړی برخه ددورن‌اثر-ص۱-۱۸٤ دلندن‌چاپ سنه ۱۸۳٦ع ته‌دی‌رجوع وشی )

دخوا نینو ، اوپښتنو مشرانو په‌باره کی شرح اوبیان کوی- دافضل هم‌دنعمت‌الله له‌تاریخ نه‌په پښتو ترجمه شویدی ، مګرد مستردورن په‌ترجمه کی‌نه‌لیدل کېږی - ځکه ددورن ترجمه له کومې بلی‌لنډې پارسی نسخی څخه شویده - دافضل دخانجهان لودی ، دلیرخان ، بهادرخان،پردل‌خان اودریاخان په شرح‌حال باندی مشتمل‌دی .

څلورم‌دفتر دهغو پښتو بیان‌دی‌چه‌په کابل کښې‌ئی‌صورت‌مونه‌لیدی.

پنځم دفتر ۲۷۱ پانه الف ۲۹۹ب :

دایوه شرحه ده‌دغوری اوخاکی قبائلودمهاجرت پرموضوع باندی له‌قندهار څخه کابل‌ته،ددغو پښتو بیان پدې فصل‌او نورو

راتلونکوفصلو نوکی ، مولف له تذکرة الابرار والاشرار داخوند درویزه اوطبقات اکبری،جهانگیر نامې اونورو کتابو څخه اخستی‌دی شپږم فصل دفتر ۳۰۰-٦۱۰ پاڼه ب :

عبارت دی دخټکو له‌شجرې او تاریخچې اودمصنف دنیکه خوشحال‌خان‌خټک له‌سترو شخړو څخه..اووم‌دفتر ٦۱۰-۷۱۷ب پاڼې:

دپښتنو دسترو مشایخواوروحانیونو،اودهغوی دخوارقو بیان کوی- ددې فصل لومړی- برخه ددورن دترجمې دمخزن‌افغانی له‌دریم فصل څخه ترجمه شویده ، په‌دې فصل کښې د (۲۸)تنو سړو بنو مشایخو او(۱۸) تنوبیټنو، او(۱۷)تنوغرغشتی‌روحانیونو شرح‌حال‌لیکل شویدی ، اودخټکو دکلام‌دځینو مشایخو احوال هم‌په اخر کی ورپورې ټرل‌شوی‌چه‌نومونه‌ئی‌دادی : بنوری‌آدم ابوالفتح - ناسك کرانې خټك ، اخوندمحمدچالاك ، میاجمیل پیرسباك ، شیخ‌بهادر ، اودهغه زوی شیخ رحمکار (کاکاصاحب ) میان الحداد ، او،راول فقیر - خاتمه‌ئی۷۱۷-۷٤۰ پاڼه :

دپښتنو له‌شجرې اونسبنامې څخه‌عبارت‌دی چه‌په لاندی‌دریو فصلو کی راغلیدی :

۱- سړبنیان ۲- بټنیان ۳- غرغښتیان - دابیان‌هم له‌مخزن افغانی څخه‌اخستل شوی‌دی -(د دورن د ترجمې دوهمې برخی ته‌دی رجوع وشی) .

افضل خان یوبل کتاب (علم خانه‌دانش) له عیاردانش څخه هم په‌پښتو ترجمه کړیدی .

د پښتنو په سلسله کښې دخالد اوقیس عبدالرشید پټان له زمانې څخه د فرملی، او خطانی ذکر نه‌ده راغلی ، نو هرکله چه‌دپښتنو دنسب سلسله واضح‌ده دغیرلحاظ پکښې نشته دانسخه مولوی‌محمد حسن پښورې استنساخ کړیده‌اوداسی‌شروع کښې:

دپر دپر شکر او حمد هغه یوه خدای لره چه ... داکتاب مستطاب یعنی تاریخ مرصع ، د افضل خان تصنیف ... په قلم دمولوی محمد حسن په‌ښار دپښور په‌اته‌ویشتم تاریخ - میاشی داپریل ۱۸۸۵ ع‌کال .... ولیکل‌شو .

دوې نسخې نورې دتاریخ مرصع دولیم رسکن ، او مهجر راورټی لپاره ښودل شویدی ، لومړی د(۱۸) پېړی- په دوهمه برخه کښې اودوهمه نسخه‌ئی‌په۱۲۷۲ هجری‌کال استنساخ شویده خونیمکله پاتی‌دی‌اوبشپړی ندی، مګر دواړه دبرتانیې‌په‌موزیم کی شته دی .

☆ ☆ ☆

پرله‌پسی‌لمبر ٤۲۳۱ -۱۲٤پاڼی ۱۹انچه په پنځه نیمو انچو کی‌دهرمخ کرښې۱۵- اواوزده‌ئی۳ انچه (۱۸پېړی- )
(جهمز دارمستتر )

شاهنامه: په‌نظم باندی یوتاریخی کتاب دی چه داحمد شاه درانی دژوندانه له‌هغه وخته‌څخه چه‌دنادرشاه افشار سره ؤ ، او ترهغه وخته‌پورې چه‌داقتدار اونفوذ خاوندشو ،اوبیاترهغه وخته چه‌دمرهټه وو په‌خلاف ئی‌عسکر ویستل او هغوی ئی د پانی‌پت په‌میدان کی مغلوب کړل بحث کوی -ددغې شهنامې لیکو نکی «حافظ» نومېږی اوشهنامه‌ئی په‌دغه‌پول شروع کښې :

| | |
|---|---|
| اول ثنا ده د سبحان | چه‌پادشاه دی دجهان |
| که هزارمی شی زبان | په خوقسم که بیان |
| نه به شی له ما ادا | که ګویا شی واړه دا |

په‌دې شهنامه کی لیکل شوی شیان دغه‌دی :

لومړی- پاڼه : دخدای تعالی (ج) دثنا اوحمد په باب خو شعرونه اودرسول اکرم (ص) او د یارانو نعت .

دالف د(۲) پانی مقدمه د څمګنیو نه لاهورته خو ځېدل اودنادر افشار د مرګ د (ب ۱٤ پاڼه) .

دالف ۱۸ پاڼه : دافغانستان دپاچا په‌حیث داحمدشاه درانی جلوس اودهغه دتاج ګذاری- رسم (۱۷٤۷ع) .

دالف ۲۲- پاڼه : دناصرخان (۱) ایل کول اوتښته .

دالف۲۵ پاڼه : دلاهور په‌لوری داحمدشابابا سوق‌الجیشی

---

(۱) احمدشاه‌بابا په(۱۱٦۱ه) کی سفر بری‌حرکات شروع کړل، نوهرکله چه‌هغه ذات‌تصمیم نیولی‌و خودلمرختیځی جبهې نه خپل کار تمام نکړی آرام نه کښینی ، نو سردار جا نخان سپه سالار ئی دسر لښکر په توګه دکابل په‌خط و لېږه او پخپله ورپسی را روان شو ، د پښور او کابل مغلی نائب الحکو مه (ناصرخان) چه دهند د در بار پخوانی کار دار ،دنادر په اطاعت مجبور شوی‌ؤ، دهغه دمرګ‌نه وروسته ئی دخپل پخوانی بادار په‌نامه بیادحکومت اعلان‌و کړ ،او غوښتل ئی چه بد غه نامه ئی لحاظ‌له اتکه‌ترغزنی پورې دخود مختاری- مستحق‌و ګڼی- مګر څرنګه چه(ناصرخان ) پدې پرېږؤ ، چه د کابل او غزنی خلق له احمدشاه سره‌مینه‌لری نودهزاره‌ؤ ،اوایماقیانوځخه‌ئی د احمدشاه په خلاف لښکر جوړ کړ ، خوله نیکه مرغه چه داحمد شاه‌بابا دسرلښکر(سردار جانخان په واسطه ده ته ماتی ورکړه شوه ) نوغزنی ئی پرېښود ، ناصرخان بیاپه کابل کی پښی وخرلی او مقابلې‌ته چمتوشو ،مګردلته دهزاره‌ؤ اوایماقانو د ایلاتو له‌خوا داحمد شاه په‌خلاف له‌ده‌سره مرسته‌ونه‌شوه، نو(ناصرخان)مجبور شوچه‌پښور ته‌وتښتی، خوهلته ئی هم‌ټیکه ونشوه، مقاومت ئی پرېښود اوداټك له‌لاری راولپنډی- ته په‌ځټ و تمبېده، په‌پای کی داحمدشاه دپرله‌پسی تعقیب له کبله لاهور ته وتښتېده .

دالف ۲۹ پانې د احمد شاه په خلاف د شهنواز خان (۱) وضع الجیشی .

دب ۳۱ پانې : لاهورته نژدې د شالیمارجګړه .

دالف۳٦ پانې : له‌جهان آباد نه دوزیر قمرالدین‌خان سره دمغلو د لښکرو را رسېدل .

دالف (۳۸) پانې : احمدشاه دخپلو افسرانو د وفاداری ، اوصداقت له‌وجهې خپل‌اعتماد زیاتوی .

دالف ٤۱ پانې سرهند ته‌خوځېدل .

دالف ٤۳ پانې :د(۱۷٤۸ع) دسرهند جګړه - دب٤۹ پانې: دلاهورد ګورنر په‌حیث‌دسرهند جګړی‌ته‌دنواب معین‌الملک‌رسېدل اودخپل پلار دمړی لیدل ئی .

دب ٥٤ پانې : دنواب معین‌الملک په منځګړې تیادهند له‌ستر واکمن‌سره‌سوله کول- دالف ٥۹ پانې کابل ته‌بهرته داحمدشاه راتګ - دب٦۲پانې : له‌نواب معین‌الملک سره بیا جګړه .

دالف ۷٥ پانې،دپیلی چورچپاو(۱۷٥٦ع)- دالف ۷۷پانې: دجیکرپه‌لوری‌مارش- دب۸٦پانې : له‌اتوپ‌شهر نه‌مخ په‌شاهدره باندی یرغل - دالف ۹۰پانې: دجمناترسیند پورپوتل - دب۹۲ پانې : په‌پانې‌پټ کی‌دمرپټه له‌لښکروسره دنواب‌نجیب‌الدوله(۲) مخا مخ کېدل :

دالف ۹٦پانې : نجیب‌الدوله اویاهو آدم .

دب ۹۷ پانې : په‌مرپټه‌ؤ باندې دخوراکې دموادوبندېدل.

دب ۱۰۰ پانې: احمدشاه په‌پانې‌پټ کی‌دمرپټه‌وو، په‌خلاف لښکری تیاروی دکتاب پای دب۱۲۱ پانې ،

پدغه شهنامه کی‌هجری‌نېټه ۱۱۷۲ سنه ضبطه شویده چه‌د عیسوی‌له(٦۰-۱۷٥۹)سره مطابقه‌ده - دغه‌شان‌نوموړی،شهنامه له‌مرپټه‌ؤ ، سره دجګړې‌د جریان‌په‌مهال‌چه‌په نتیجه کی‌مرپټانو په‌سنه (۱۷٦۱ عیسوی‌کال )ماتی وکړه اوجګړه ختم‌شوه-لیکل شویده - له‌دغی نسخی‌څخه‌داسی څرګندېږی چه‌د مولف‌په‌خط به لیکل شویوی - لکه‌چه اصلاحات هم پکښې موجود،دی،اود مخونو په‌څنډو (حاشیو) کښې‌ئی اشعارهم شته‌دی .

ددې کتاب په‌لړ کی داحمدشاه بابا دسیاسی ژوندانه خورا ډېر پټ‌اوتاریخی معلومات شته‌دی - پدې باره کی‌دی‌خورشید جهان دشیر محمد ګندپور مولفه چه‌په (۱۸۹٤ عیسوی) کال‌په ۱٤۸ مخونو په‌لاهور کی‌چاپ شویدی - همداډول تاریخ‌سلطانی دسلطان محمد بارکزی مولفه چه‌په(۱۲۹۸هجری= ۱۸۸۱ع) په‌بمبئی کی چاپ شویدی ، وکتل‌شی (۳)

دشهنامی دغه نسخه‌چه‌دبرتانیې په‌موزیم کی خوندی‌ده پدې بیتو پای‌ته رسېږی :

---

(۱) څرنګه چه‌احمدشاه بابا ناصرخان و شاړه اوپه هند کی پرمخ ولاړ شهنواز خان د ذکر یا خان زوی د قمر الدین خان اعتمادالدوله دهندلومړی‌وزیرخوریی چه‌دپنجاب نائب‌الحکو مه او قو ماندان و ، د لاهور د بنار نه بهر او د چناب پرغاړه ئی وضع الجیشی سازه کړه ،داحمد شاه لښکری دچناب نه دا پلو ودرېدی، هر کله چه نوموړی سیند په مسیر کی و ، نو د واړو لښکرو دلری یو بل سره لیدل ، خودغه توقف ډېره موده هغسی نه شو پاتی ، ځکه احمد شاه پخپله له (۸) زرو سپر و سره دشهنواز ترسنګر څومیله برله‌چناب څخه پورپووت اوسمد ستی‌ئی پر لاهور یرغل وړاړ دغه ناڅاپی حملې د شهنواز وانې ویستلی اوبې له کومی جګړې دهند دپایتخت لورته‌په څټ ولاړ ، اوبرلښکرو ئی دپښتنو لښکری ورغلی به‌څوساعتو کښې‌ئی‌بوه پناه کړی .

(۲) - نجیب‌خان روهیلی یوسف‌زی چه‌دعمرخیلو تبی ته‌منسوب دی ، دهند په شمال کی دنومیالیو پښتنو څخه یوسردار ؤ ، داسړی‌وروسته داحمدشاه له‌خوا په‌نواب نجیب‌الدوله‌سره‌ملقب اوله‌احمدشاه سره‌ئی دهند په‌فتوحاتو کی‌په‌تېر بیادمرپټه‌ؤ په‌جګړو کی سره برخه یغاړه درلوده، نجیب په(۱۷۰۸ع) کی‌د (مانیری) په‌کلی کښې چه‌تقریباً دپېښور دښارپه (۲٥) کروهی کی پروت‌دی زېږېدلی ، اودیوه معمولی سړی په‌حیث ئی دهند په‌نړۍ کی‌تبارز بیامینه ، مګرنجیب دهغه طبیعی استعداد له کبله چه خدای ور کړی‌ؤ ، ژر ترژره ئی شهرت‌پیدا کړ ، اودشمالی هنددروهیلی سردارانو ، اونورو په‌ډله کی دامتیاز خاوندشو ، چه‌وروسته دمغلو ، مرهټانو ، اوسکانو دخورا سخت‌سرو رقیبانو څخه‌حساب‌شو ، اوټول ئی ایل کړل .

نجیب الدوله دهندوستان په‌تېره بیادشمالی هند دهغه وخت په تاریخ کی له‌هره حیثه اجتماعی ، سیاسی ، عسکری ، عمرانی اوداسی نورو چارو کی دخورا زیات شهرت خاوند دی - دنوموړی‌د شخصیت په‌باره کی چه‌دهند دهغه‌مهال‌په‌حوادثو کی‌ئی کسب کړیدی ، په‌اردو ، اوانګلیسی ژبو کتابونه لیکل شویدی ، چه‌دهغو لنډیز دکابل دآریانادمجلې په(۱٤٥-۱٤۷ او۱٤۸) ګڼو کی دترجمې په توګه هم خپاره شو یدی .

نجیب‌الدوله دخپلو په‌تصریح دشاه علم دحکومت (۱٤ ) کال سنه(۱۱۸٦هجری) په نجیب آباد کی اوبعضو نورو په عقیده په (کویل) کی‌مړشوی ، خوپه هرصورت دنوموړی سردار مړی په‌نجیب آباد کی خاوروته سپارل شوی اومزار ئی هوری‌دی ،

(۳) پدې باره کی‌دی دنویو نشراتو په‌لړ کی‌داحمدشاه‌بابا کتاب ته‌چه دمیر غلام‌محمد غبار اثردی رجوع وشی .

شهنا مه می شو ه منظومه به کاغذ باندی مرقومه
اې حافظ طو طی زبا نه ژبه بند کړه له بیانه
پدا ختم کـړه گـفتـا ر په تنظیم مکړه اشعار

☆ ☆ ☆

پرله پسی لمبر ٤٤٨٨-۲۵۲ پانی-۱۲ انچه په ۷ ۳/٤ انچه په ٤ ۱/۲ انچو کی دهری صفحی کرښی ۱۵ اودهری کرښی طول ٤ ۱/۲ انچه دانسخه په ښه خط لیکل شوی ، نیټه ئی د جو لائی میاشت ۱۸٦٤ع کال دی .

دحافظ رحمت‌خان تاریخ : د یوسف زو دکام بوتاریخ‌دی چه‌د پیر معظم شاه‌لخوالیکل شوی او داسی شروع کیږی .

سپاس وستایش ما لك الملـکی‌را که کـنگرهٔ قصر کبریائی جلالش رفیعتر ازانست که‌کمتر اوهام خواص ، عوام بد انجـا تواند رسید ، وفضای بیدای کمالش وسیعتر ازآنست که‌مرغان اولی‌اجنحه‌نفوس‌فلـکی‌وعقول ملـکی بدانجا رخت تواند کشید

مصنف دیوې پارسی مقدمی په‌ترخ کی وائی چه: نوموړی دپیر محمد فاضل زوی‌دی چه‌دپښور په سیمه کی دپیر شهـاك په کـلی کښی دحافظ رحمت خان سره د روهلیانو له مشهورو سردارانوڅخه( چه په۱۱۸۸ه اوه۱۷۷٤عیسوی کښی‌مړشوی‌دی)ؤ اوسیده.

نوموړی‌سردار دخان بهادرخان په کتابخانه کی چه دغوریاخیلو دائود زی پښتونؤ ، شاهجهان پور (دهلی) کی کتاب تواریخ افغانیه (۱)یوه‌قلمی نسخه ولیدله چه دغوری او خاکی نومونو تاریخچه پکښی‌وه اوهمدارنگه ئی‌دیوسف‌زو په باره کی‌شرحه لرله چه په پښتـو او پارسی دوا ړو ژ بو د اخوذ د در ویزه دمخزن‌الاسلام (تذکری دسبك‌اوطرز په‌شان گډه‌لیکل‌شویده) .

پیرمعظم شاه د حافظ رحمت خان (۲) په امر او فرما یش نوموړی‌تاریخ پیادسره‌ولیکه ، اوزیارئی‌وکښې چه عبارتونه‌ئی ساده اوآسانه ،سبك اوطرزئی ښه او داستفادې وړوی . دااثر په ۷ فصلونو (تمام) وښل شو یدی اونیټه ئی ( ۱۱۸۱ ه = ٦۸ - ۱۷٦۷ع) ده نوموړی تاریخ له‌هغه شعر څخه چه کتاب وربانديې پای ته‌رسیدلیدی لاسته راغلیدی .

۱- دالف ٤۰ پانه :

دغوری او خاکی قومونو لومړنی ځای - هستوګنه ئی په کابل کی اومخالفت ئی‌دهغه‌وخت له‌والی (میرزا الغبیګ-)سره .

۲- دب ۲۲ پا نه :

پښور ته دیوسف‌زو مهاجرت له ، دله زاکانو سره جګړه، ددو آب او باجوړ تسخیر اوداشنغر دقلا فتحه .

۳- دب ٤۹ پانه :

په‌سوات باندې دملك احمد په‌مشری- یرغل اودیوسف زو دایل کولو په‌نیت دبابرشاه‌اقدام .

٤- دالف ۸۵ پانه :

په‌دوآب کی‌دکیکیانو تمرکز اوهستوګنه، کابل‌نه ، پښور ته دبابر شاه تګ اود دلازاکانو ایل کول .

۵- دالف ۹۷ پانه :

دکیکیانو ، اودلازاکانو جګړه او نښته .

٦- دب ۱۱۳ پانه :

د شیخ مالی ترنظر لاندې د مختلفو قومو تر منځ دنیول شویو محکو وپش او تقسیم - دشیخ‌مالی اوملك احمد مړینه - دمشری- اوسرداری مقام ته‌دخان کاجورسپدنه ، اودغوریا خیلو ترمنځ د محکو و یش .

۷- دب ۱۳٤ پانه :

دغوریا خیلو سره دیوسف زو جګړه دهغوی ایل کول او

(۱) دحسین‌خان افغان تالیف‌چه‌په ۱٦۷۲ع کی لیکل شویدی .

(۲) شاغلی غبار دلوی‌احمدشاه بابا دکتاب‌په حاشیو کی داسی‌لیکلیدی ، سعدالله‌خان دروهیلی محمدعلی‌افغان زوی‌چه‌دبړیځو تپی ته‌منسوبؤ ،اونیکه‌ئی دفرخ‌سیر په‌زمانه‌کی له‌شرقی افغانستان څخه دکنزا ولایت ته‌تللیؤ، ددې کورنیۍ مشران دوه ورونه یوشاعالم اوبل‌حسن‌خانؤ- شاعالم دوه‌زامن لرل یودائود ،اوبل حافظ رحمت‌خان نومیده اوحسن‌خان یوزوی ددونیی‌خان په‌نامه لاره ... حافظ الملك حافظ رحمت‌خان برسیره‌پرسیاسی پوهې ، فاضل‌اوعالم، اخلاقی‌اودروندسړیؤ،په‌پښتو اوپارسی کښی‌ئی شعر وایه، شخصی کتابخانه ئی مهمه اودقدر وړ ګڼله کیده ، چه‌زیاتره زامن ئی دخپل پلار دفاضلانه ، شاعرانه روزنی په سیوری کی فاضلانه اوشاعرانه وده‌وکړه -نواب الله‌یارخان ،نواب محبت‌خان ،نواب مستجاب‌خان ، اونواب‌غلام‌مصطفی‌خان. احمدشاه بابا ، حافظ رحمت‌خان ته‌په درنه ستر ګه کتل لکه‌چه دهغه شفاعت ئی دخپل غورنیکه ددووتنو مخالفینو په هکله (غازی‌الدین خان او سوراج‌مل) وما ته او پانیپت دجګړې وروسته ئی‌د(اناوه) ملك‌هغه ته و بانیه حافظ رحمت‌خان د۷۲ کلو په عمر د صفری په ۱۱ (۱۱۸۸ه کال) دمیران پور په‌جګړه کی‌شهید شو .

(دحافظ دحال دمعلومولو لپاره ،دحافظ رحمت‌خان دژوندانه کتاب ته‌چه دسیدالطاف‌علی‌مولف دی، اودبدایو(۱۹۳۳ع ) چاپ دی ، رجوع وشی ) .

دخان گاجو پەلاس ئی د مخکونیونه لکه چەددغی نسخی پەپای کی چه لیکل شو یدی ، دا اثر د میا ن معظم شاه په وا سطه دمحمدعظیم‌الله‌خان ددلاور الملك عزت‌الدوله دند ی خان بهادر بهرام جنگ د حکمرانی پەوخت کې تالیف‌شویدی ، ددې نسخی «مستنسخ» میرزا محمد اسمعیل قندهاری دجولائی میاشت پە۲٦ ۱۸٦٤ ع کا ل‌دی.

لکسیکو کراتی : پرله‌پسی لمبر٤٤۹۰ دپانو شمیر ۷۲٤ ۱۲نیمو پە۱۸ انچو کی دهری‌صفحی‌د کرښوا ندازه (۱۷) دهرې کرښی‌طول ٤ نیم انچه - دا نسخه په اروپائی‌کاغذ لیکل شویده چه پەځندپو کی‌ئی یومهر پەدې عبا رت لیدل کېږی :

Ralland Ereres Boydeaux ( میجر راورټی)

ریاض المحبت : دپښتو د ګرامر او لغاتو څخه عبارت دی، چەدنواب محبت خان لەخوا په پارسی تصنیف شویدی دانسخه پدې‌پول شروع کېږ ی :

ستایش بیګران و نیایش فرا وان نخل بندی را باید که حدا یق جهان را بګلها ی بو قلمون و نها لهای گو نا گون آراستګی و پیراستګی بخشید ... الخ

محبت‌خان دحافظ رحمت‌خان مشرزوی‌اودروهیلیانو مشهور سرداردی ،دی د(۱۱۸۸ه - ۱۷۷٤ ع ) دجګړې پرډګر باندې مړ شوی او د ده دا اثر د ( سر جا ن بـاو لو ) له خوا هغه مهال‌چه‌په «۱۲۲۱ه - ۱۸۰٦ع» لکنهو کی‌دبرتانیې دحکومت نظر بند و ، تالیف شو یدی .

محبت خان لەدغه اثرسره دری نور دیوانونه هم په پښتو، پارسی اوهندی لیکلیدی، دی په هندی ژبه دیوې مثنوی خاوند همدی چه هغه‌ئی د «اسرار محبت» په‌نامه بللی ، او د(ساسی) او (بنو) قصی اوسر ګذشت هم لری .

دمحبت خان د کوچنی ور ور الایار خان اثرهم ددې اثر پەشان‌دی چەهغه‌ئی عجائب اللغات بللیدی «پەهمدغه سلسله کی دی (۱۵) لمبر کتاب و کوت‌شی » نومویی دخیل اثر پەمقدمه کی داسی کښلیدی :

محبت خان په۱۲۲۳ه - ۱۸۰۸ ع کال لەدنیاسفر کړیدی، دا اثرپه ۲ فصلونو (بـابو) وښل شوی لومړی باب‌ئی د(الف له ٦ پانې تر۵۹۵ پانې‌پوری ) دپښتو افعالو دجوړښد لـو په موضوع بحث کوی،چەدالف‌یا،پەترتیب‌تول‌شویدی دوهم‌باب‌ئی دالف (۵۹۵پانې‌څخه‌تر۷۲٤ ) پورې‌دپښتودلغاتو د ګشنری ده، چه معنی ګـانې پەپارسی لیکل شویدی ، لەدې پارسی تـو نی څخه چه د کتاب دتصنیف دتاریخ پەماده کی ویـل شـوی او دنسخی په اخر کی‌موجوده‌ده‌څرګندیږی چه‌تاریخ‌ئی۱۲۲۱ه دی چه د(نونسخه‌محبت) څخه لاس‌ته‌راغی، اوهغه شعری توټه‌داده :

این نسخه تحفه نو تصنیف شد چو از من
آمـدند از هرسو صدآ فریـن ورحمت

اتمـام سال آنـرا هرگـه ز غیب جستم
تـاریخ گـفت هـاتف ( نونسخهٔ محبت )

۱۵ لمبر پرله‌پسی ۳۹۹ دپانو شمیر۲۷٤ ۳/٤ ۱۰ پـه ۱/٤ ٦ انچو کی دمخونو د کرښو شمیر ۱۷ دهرې کرښی اوږ دوالی ۳/٤ ۳ انچه اندازه شویدی.

ددې نسخې خط رون او نستعلیق‌دی، تاریخ ئی عبارت دی له (۱۲۳٤ه - ۱۸۱۹) کـال د رجب میاشت .

عجائب‌اللغات : «هملتن»

دا اثر لەیوې هندی او پښتو د ګشنری څخه عبارت دی چه په پارسی ژبه‌شرحه شویدی ، لکه چه پخوا مو وویل ددی اثر لیکونکی الایارخان دحافظ رحمت‌خـان کشر زوی دی، اودا نسخه داسی شروع کېږی :

«الحمدلله ... بعدستایش کبریائی جل‌وعلی ودرود برخواجه انبیا علیه من‌الصلوات افضلها، ومناصب خلفای راشدین وجمیع اصحاب وتابعین رضوان‌الله تعالی علیهم اجمعین ، میګوید بندهٔ ګـنه‌ګـار ... الخ ددې نسخی پەسر کی یوه مقدمه موجوده ده چه دپښتو ګرامرپەباب یاد داشتونه لـری، (دب ٤ پـانې ) دا د ګشنری په ۲۸ بابونو وښل شویده چه دب له ۱۱ پانې څخه شروع کېږی، دلغاتو پدې اثر کی لومړی هندی کلموته لخای ورکړ شویدی، وروسته ترهغه دپښتو لغات دپارسی اوعربی له مرادفو لغاتو سره یو ځای ضبط شو یدی پدې د ګشنری کـی د ع ، ف، پ اوه توری دپښتو،پارسی، عربی اوهندی ژبولپاره په ترتیب استعمال شویدی، اوپه سره رنګ دلغاتو دپاسه‌لیکل شویدی دا اثر دتاریخ پەپنځو مادو کی تمامیږی، چەدهغه له مخی دتصنیف تاریـخ ۱۲۲۸ه - ۱۸۱۳ع ، دی - دتـا ریـخ لومړنیو ماده په هندی، او دریمه‌ئی‌پەپارسی کی دابراهیم‌خان فرصت اثر دی ، او - د دو هم تار یخ ماده پـه پښتو کی سره دپارسی ترجمې پخپله د معنف ده، اودتاریخ نورې مادې یوه په پارسی او بله پەعربی کی دمولوی ګـل محمد لخوا ترتیب شویده - او ددې نسخی مستنسخ غلام حسن‌دی .

پـه۱٦ - پرله پسی لمبر٤٤۹۱ د پانو شمیر ۳۲۲ - ۱۲ انچه ۱/۲ ۷ انچو کی‌دهری صفحی‌د کرښوشمیر۱۷،اودهری کر ښی اوزد والی ۳/٤ ۵ انچه‌دی . دا نسخه هم په رون ا و نستعلیق خط لیکل‌شویده « تاریخ‌ئی‌دصفری‌میاشت ۱۲۷۱ه = ۱۸۵٤ع» کال‌دی . (میجر راورټی)

دعجائب‌اللغت یوه بله نسخه‌ده چه مستنسخ ئی شرف‌الدین ملتانی دی .

۱۷ - پرله پسی لمبر ۲٦۵۸۲،دپانو شمېر ۱٤٦-۳ ۱/۲ انچه په ۱۸ انچو کی دا نسخه له «۱۸۰۳ - ۱۸۰۵» په اروپائی کاغذ لیکل شو یده او د کاغذ پرمخ د اوبو د څاڅکو داغونه لیدل کېږی . (ولیم رسکن)

دا نسخه دژبگنې یاداشتونو دیوې مجموعی څخه عبارت ده، چه دالاندې برخی ئی په پښتو پورې اړه لری .

۱ : د (۱ - ۱۰) پانو د پښتو ژبی په هـکله گرامـری یادداشتونه دی،اوهم دعبدالرشید دمرتضی (رشیدبیان) دمطالبو خلاصه ارلنډیزه ده (پدې سلسله کی داتم لمبر کـتاب و کوت شی) چه تر ٦۳عنوانو لاندی لیکل شویدی ۵ پانې

۲ :(۱۱-۱۹)پانې دپښتو دادبیاتو دنمونو څخه دانگلیسی تور و په واسطه لیکل شویدی - همدارنگه داسی یاد داشتونه لری چه درحمن بابا له دیوان څخه اخستل شویدی ، اوهم د(هندی قصه گوی پښتو یوه قطعه، اوداخوند درویزه دمخزن الاسلام نوتونه پدې کی لیدل کېږی) لمبر ۲-۳ .

۳ :(۲۰-۲۲)پانې دعبدالرحمن دغزلو او مخزن الاسلام له انتخاباتو څخه عبارت دی او په پښتو رسم الخط سره لیکل شویدی .

٤ - (۲۳ - ۲٦) پانې دپښتو لغاتو او ترجمی څخه،عبارت دی اوهمدا رنگه سره د نومورو لغاتو دمجازی معنی او ترجمی.

۵ - (۲۷ - ۲۸) پانې دیوه لست څخه عبـارت دی چه څو پښتو فعله لری، او دفعل تصریف پـکښې شته دی ( ویل) دگـفتن په معنی او همداډول دپښتو الفبا، لری .

پرله پسی امبر٤٤۹٦ پانې۲۵-۱۳ نیم انچه په ۱۷ نیـمو انچو کښې دهرمخ کرښې۱۵ اودهری کرښې اوږدوالی ۱/۲ ٤ انچه ده چه په ۱۹ پېرې کی لیکل شوی دی . (میجر راورټی)

دارزانی دیوان : دملاارزانی له اشعارو څخه عبارت دی چه په لاندې ډول شروع کېږی :

| | |
|---|---|
| له الف کـوز تـه یا | فقیر را وړه بی ریا |
| اول دفتر به و کښم | په نا مه د کـبر یا |
| دبل چاصفت به څو کړم | لـکه نقش د بوریا |
| حق له شش جهة پاکدی | بی پایانه لوی دریا |

دا نسخه ٤۹ غزلی لری چه دالفبا به ترتیب سمې شویدی،میجر راورټی په هغه یادداشت کی چه له دې نسخی سره ضمیمه دی داډول لیکی:

داملا دبایزید انصاری دمشهورو اومعروفو ادبی معا ونانو اومـرستیالو څخه ؤ آخون درویزه دهغه په باره کـی وائی چه ارزانی شاعر دخشکی دکورنی له هغو دریوو وروڼو څخه و چه نومونه ئی دادی: ارزانی - عمر اوعلی دوی له هندنه دلته راغلی دی هرکاه چه دوی دلته دبا یزیـد انصاری سره آشنایان شول هغوی هم لکه بایزید غوندی ددین لـه لاری څخه وگـرزېدل ارزانی یوفصیح ادیب،زیرك اوپوه شاعرؤ اودخیل مذهب تول نوی اصولونه اوعقائدئی په نظم راویستل اودهغه اشعاردبایزید له کتاب سره یوځای اوگډ کړل شول

پرله پسی لمبر ٤۲۲۸ پانې ۱۲۸ ۸ نیم انچه په ٦ انچو کی دصفحو دکرښو شمېر ۱۵ دهری کرښی اوږد والی ۳ نیم انچه ۱۱۰۱ هـ ۱٦۹۰ع ( جی دارمستتر )

دمیرزادیوان : دمیرزاخان انصاری لـه منظوم اثـر څخه عبارت دی چه پدې ډول شروع کېږی :

| | |
|---|---|
| نن به و کړم څو صفت | د مـو لـی له ار ا د ت |
| هر یو فعل چه ئی وینی | خالی نـه دی له حکـمت |
| پراحمد نزول قرآن شو | چه سل څوارلس ئی صورت |
| شپږ زره په شمار دی | شپږسوه شپږ شپېته آیت |
| دپرش ئی سپـاری دی | څورلس ئی سجده تلاوت |
| دپرش ئی دی حرفونه | بیـائی څور لـس روایت |

میرزاخان انصاری ښائی چه دبایزید انصاری له کورنی بلـکه دهغه لـه لمسیانو څخه وی چه پـه پیر روښان مشهور اودروښانیانو دډلې موسس و، اود(۱۷) پېرې په منځ کی ئی دپرطرفداران درلودل .

دپښتو غوره اشعارچه راورټی ټول کړیدی (۱۸٦۲-له ۱۵ څخه تر ۵۵ مخو پوری دلندن چاپ دی و کوت شی ددبستان مذاهب مصنف (۱۲۹۹هـ ٤۱۱/۱۸۸۷مخ دلکنهو چاپ ) لیـکلی دی چه میرزا دنور الدین زوی دی ، چه نومورې دبایزیـد دریـم زوی ؤ داورنگ زیب دپاچاهی په دوره کی ئی ژوندکاؤ او بالاخر په دولت آبـادکی و ژل شویدی .

دمیرزا اشعار اوغزلی په دوو برخو کی ټولی شوی اوتدوین کړی شویدی چه لومړی برخه ئی «دب ۱-۳۲ پانې) ددوهمـی برخې په شان دالفبا دتورو دترتیب په اساس ندی تول شوی،ددغی نسخی دپانو په څنډو کی څه نور اشعار ، اوهمدارنگه داشعارو پارسی شرحه په نظر راځی دگـلشن روه (له۱۱۹-۱۳۲مخ) دمیرزا دغورواشعارو یوه برخه اوهمدارنگه ددورن دکرستومیتی نومی کتاب ( په ۲۸۵ - ۳۰۳) مخونو کی هم چاپ شویدی .

دنومورې نسخی مستنسخ محمد محسن د مـلا احمد قریشی زوی دی .

تمت تمام شد کـتاب دیوان افغانی میرزا کاتب فقیر حـقیر کـثیر التقصیر محمد محسن ولدملااحمدقریشی ... تمام دروقت چاشت روزسه شنبه سنه ۱۱۰۱هـ .

پرله پسی لمبر ٤٤۹۷-۱۳۹ پانې /۹ نیم انچه په ۵ نیمو انچو کی دهرمخ دکرښو شمېر ۱۳ دهری کـرښی اوږدوالی ٤ انچه دانسخه بی له تردیدځخه د۱۸ پېرې په اوائلو کی لیکلی شویده .

دمیرزاخان ددیوان یوه بله نسخه ده ، غیرله‌دی چه دغـز لیاتو اواشعارو په ترتیب کی(میجراورتی) ئی لبز شانته تنهر په نظر رائی نوردپخوانیر نسخی سره سرتر پایه موافقت‌لری دانسخه دملاکمال په‌واسطه دمحمد نصیرالله‌خان دپاره لیکل شوی ده (تمت کتاب ) کتاب‌دیوان میرزاجی برای عالیجاه رفیعجایگاه عمدة الخوانین العظام میان‌محمد نصیرالله به دستخط ملاکمال تحریر یافت .

څوعربی‌شعرونه ددغی نسخی‌په وروستنیر پانه کی دبل چا له‌خواپه بدپول لیکل شوی اوهمدارنـگه دقمبر علیخان دزوی دپیدایښت دنیټی یادداشت ( دربیع الاول ۱۱۲۶ه - ۱۷۱٤ع) پکښی لیکل شویدی .

پرله پسی لمبر ۲۸۰۳ - ۱۱۸ پانی / ۱۱ نیم انچه په $7\frac{1}{4}$ انـچـو ، دهـرمـخ دکـربنو شمېر ۱۵ ، دهـری کربنی اوزدوالی ۵ - انچه ،نیټه (۱۸۸۱ع ) (دیو،تی، پی، هوکس) دمیرزاخان ددیوان یوه بله‌نسخه ده پدی نسخه کـی داشعارو اوغزلو ترتیب په‌ډېره بنکلا او بنه پول مراعات شویدی اوله دوو نورو نسخو سره‌بیخی‌زیات تو پیراری اودالفبا تورو هیڅ پول ترتیب‌ته پدی‌نسخه کی اعتبار نه‌دی ورکړ شوی لومړیء غزلئی (دلادردیف دپخوانیر نسخی ۱۱٦ پانه‌دی، وکتله‌شی) پدې‌پول شروع شویدی یوعجب عزت عزو علی چه‌موندی شی دباطن له‌فضلا دکـاملدتلقین هسی شان هندی چه‌ئی نابودغیری محوشی‌بلا مسترهوکس ددغی نسخی سره دالاندی یادداشت یوڅای کړیدی :

میرزاخـان انصاری د پښتنو دپخوانیو شعـرا ؤ څخه دی او وائـی چـه نو موړی پـه تېـرا کـی چـه دپـېښور لـه سرحداتو څخه‌دی، اوسیده، کال اونیټه‌ئی په‌یقینی صورت نه‌ده معلومه، مگرخیال کاوه‌شی چه‌د (۱٦۰۰ع) په‌خواوشا کی‌به‌وی، پوه پښتانه ټول پدغه عقیده دی چه دمیرزاخان شعریٔ‌به ډېره پخوانیر ده، اوپه اشعارو کی ئی دسنسکریت کلمی په‌آزادپول راغلیدی خیال کېږی چه‌میرزاخان دپیر روښان له‌اولادې څخه دی خوداخبره یقینی‌نه‌ده (۱) دنسخی‌پای تمام‌شو په‌دوهم‌تاریخ داگست اتلس‌سوه یواتیا عیسوی کال کی مطابق د رمضان دمیاشتی پنځمه، دوولس‌سوه اوه نوی کال ، محمدکلی کښی په وخت داوه بجی دورځ ... پرله پسی لمبر ٤۲۲۹ ، ۱۱انچه په ۱٦انچو کی دهرمخ دکربنو شمېر۱۷ ، دهری کربنی اوزدوالی ۱٤انچه،سره دخوشخطه خط کښی‌شویٔ -حاشیو -چه‌نیټه‌ئی بی له شکه (۱۸) پېرې‌ده... «جی‌دارمستتر»

دیوان خوشحال‌خان : دخوشحال‌خان شعری‌اثر:خوشحال‌خان دختکو دقام مشهور سردار- د شهباز خان‌زوی په۱۰۲۲هجری ۱٦۱۳ عیسوی کښی دشاه‌جهان د امیراتوری- په‌زمانه کی‌دنیاته راغلیدی - داورنگ‌زیب‌دپاچاهی‌ر نه‌څوموده‌وروسته(۱٦۵۸ع) دکوالیور په کلاکی دکابل دصوبه دار امیرخان،اوخوتنونورو، ددسیسه کازی- په‌اثربندی کړی‌شو، نوموړی خپل‌زیاتره اشعار په‌خپل (اوه) کلنی‌جیل کښی‌ویلیدی ، اوهرکله چه له‌قید نه‌آزاد کړی‌شو ، څوځوکاله دمغلو په‌خلاف وجنگید ،خوپه پای کی‌د خپل مشرزوی (اشرف‌خان) په گټه دقوم‌له‌سرداری- اومشری- څخه‌استعفا وکړه، ترخوچه‌دخپل عمر داور وستیږورځی‌په کراره تېری کړی، خودده دکورنیر داغتشاش له‌املـه ، چه‌هغه دده‌دبل زوی‌بهرام په واسطه منځ‌ته راغلیؤ، خوشحال خان اپرېدوته مخه ونیوله ،ترخوچه‌هوری په(۱٦۹۱ع) کښی د۷۸ کلو په‌عمر په‌هم‌هغه ځای کی له‌ژوندنځه‌ستر گی‌پټې کړې مړشو- دالاندی اشعار ددغه حماسی او جنگیالی شاعر دژوندانه له تا ریخچی څخه‌دمیجر راورټی‌د (منتخبات اشعارافغانی)نومی اثرڅخه‌اخستل شویدی- همداډول را ورټی دخپل پښتو ګرامر په مقدمه کښی لیکی چه :

خوشحال‌خان خټک یوتن دلوئی حوصلی‌خاوند ،اوپرنویس شاعر ، اودهغه دکهول او کورنیر دافرادو د روایت په قرار دخان پښتو او پارسی اثار د(۳٦۰) کتا بو څخه کم نه دی - د نوموړی اشعار په ځلو رو برخو وېشل شویدی ، لکه په‌هغه نسخه چه‌په ۱۸٦۹ کښی دپېښور (جیل پرس ) کی‌ددا کتربلیوتر پام لرنی‌لاندی لېتو ګرافی‌شو یده، پو رتنی‌ترتیب‌لیدل کیږی.

۸-دب ۳پانه دالف٥٦ .

ددیوان اشعارئی‌داسی‌شروع کیږی :

ای چه خیال کړی په‌دنیا  دنیا څه ده ، بی وفا
که‌دی یوزمان زړه بنه کا  بیا دی ورکا په زړا

۲- دب٤٥پانه-۳٦۰ددیوان دوهم شعر داسی‌شروع کیږی:

صورت گر چه‌صورت په‌دیوال سازکا
کل عالم ئی‌په صفت زبان‌دراز کا
د هغه نقاش په صنع نظر نه کـا
چه‌له‌څه څاڅکی‌نه‌دانقش وطراز کا

۳ - ۳۰۷ پانه ۳۸۱ داشعار و در یمه مجموعه ئی داسی شروع کیږی :

جکی‌جکی‌نفس ډیر در پسی ولاړم
ته‌هم څه‌خو، اوس‌په‌ماپسی روان‌شه
چه‌دوې‌هغه خوازه می‌تاته درکړه
دتر وو ، د ترخو هم‌مزه چشان شه

٤- ۳۸۳ پانه ۵۱۱ دځلو ریزو مجموعه ده چه پدغه ډول شروع کیږی :

کـه وا ړه خلق ثنا د خدا ی کـا
څوك به ئی کوم صفت په ځای کا

ثنائی ډیره ده ، ترحساب تیره ده
څوك به ئی کو م ثنا په لځای کا

ددغی نسخی مستنسخ محمد عالم کشمیری دی - تمت نسخه تمت الکتاب بعون الملك الوهاب دیوان خوشحال خان ختك بیدفقیر الحقیر محمد عالم کشمیری تمت تحریر یافت پرله پسی لمبر ٤٤٩٢ پانې ٢٦٢ - ١٣ نیم انچه په ١٦ انچه، دهرمخ د گرښو شمېر ١٥ اودهرې کرښې اوزدوالی ئی له ٤ نیم تر ٥ انچو پورې - دا نسخه په ډېرغور ، او ژور نظر په نازك کاغذ چه دغه ټاپه ورباندې لګول شو یده Ralland Ereres Borboleun 1855 لیکل شویده . ( میجر راورټی)

د خوشحال خان دیوان .

دخوشحال خان ددیوان دوهمه نسخه ده چه داسی شروع کېږی:

صورت گرچه بنه صورت په دیوال ساز کا
کل عالم ئی په صفت زبان دراز کا
دهغه نقاش په صنع نظر نکړ
چه له ځا ځکی نه دا نقش و طراز کا

داشعارو ترتیب لکه چه په چاپ شوی نسخه کی لیدل کېږی پدغه نسخه کښی هاغسی نه دی له دغی نسخی سره څو مخمس او مسدس او د بند تر کیبات او هم دا رنګه څه نور اشعار یوځای کړی شویدی - په دغه نسخه کی زیاته تصحیح شویده چه د میجر راورټی لخوا په عمل را غلیده تمت تمام شد ، نسخه دیوان خو شحال خان ختك بز بان پښتو بتا ریخ او ل شهر محرم الحرام زیور اختتام بو شیده فقط ... الخ

٥٢٠٢٨٠٠ - ١١٩ پانې - ١١ انچه په اوه نیمو انچو کی ، دهری صفحی د کرښو شمېر ١٥ ، او د هری کرښی اوزدوالی ١٥ انچه ، دانسخه په ښه خط لیکل شویده کاغذئی اروپائی دی ددې نسخی نېټه ١٨٧٢ عیسو ی کال دی - او دغه لاندی ټاپه ورباندی لګېدلیده .

Cmillington London 1869 Smith meynerfiume
(ریونی پی هو کس)

دافضل خان ختك له اشعارو څخه چه متخلص په هجری دی ، عبارت دی، دیوان هجری اوداسی شروع کېږی :

د بوسې وعده همیش یاد په فردا کا
ځما زړه کله باور په دا و ینا کا
چه هوس کانن دگاندې په کا رونه
عاقلان په هغه کس پوری خندا کا
یار آگه نه دی د دهر له نیرنګه
لا ربښتیا به زړه کی نه لری دعا کا

اشرف خان دخوشحال خان ختك مشر زوی په ١٠٤٤ هجری ١٦٣٤ ع کښی پیداشویدی نومورې دخیل پلار په ځای په ١٦٨١ ع کښی دخټکو دقوم دمشری - اوسرداری - مقام ته ورسېدی - دوه کاله وروسته ئی ورور (بهرام) هغه داورنګ زیب چنګ ته ور کړ اورنګ زیب هغه خوار دبیجاپور په قلاکی بندی کړ ، څوچه نومورې په ١١٠٥ هجری ١٦٩٣ ع کښی د(٦٠) کلنی په عمر په هغه ځای کی له ژوندانه څخه ستر گی پتی کړې هغه خپل زیاتره اشعار په بندی خانه کښی ویلیدی، اوله همدغه کبله ئی دهجری تخلص غوره کړیدی .

مسترهو کس په هغه یاد داشت کښی چه له دغی نسخی سره مل دی، لیکی چه : داشرف خان ددغې نسخی اشعار دهغه (هو کس) ترنظر لاندې دیوې بلی اصلی نسخی څخه چه دافضل خان جمالگری چه د پښور دشاؤخوا ، له اوسېدونکو او د شاعر له لمسیانو څخه دی اخستل شوی دی .

ددې نسخی اشعار دالفبا د تورو په ډول ټول شویدی اودخو مخمسو اور باعیو اوپنځو شعرونو په واسطه چه دخوشحال خان دمړینی له نېټې نه بحث کوی ، تعقیب کېږی چه دتاریخ له دغو پنځومادو څخه ئی ٤ قطعی په پارسی ویل شویدی .

داشرف خان د دیوان غوره اشعار په گلشن روه کی چاپ شویدی ، اوهمدا رنګه ئی یوه انګلیسی ترجمه د راورټی په منتخبا تو کی (٢٤٩-٢٦٧ مخه) خیره شویده .

ددغی نسخی مستنسخ غلام جیلانی پښوری دی دنسخی پای.

تمت تمام شد په تاریخ دشېزم دجنوری په میاشت ١٨٧٣ ع کال په دسخط دفقیر غلام جیلانی پښو ری

١٠٨٥٧٢٨٠٢- پانې ٩ نیم انچه ، په ٦ انچو کښی دهر مخ د کرښو شمېر تقریبا ١٥، دهری کرښی اوزدوالی ٤ نیم انچه ، چه په ١٩ پېړی - کښی لیکل شوی دی . ( ریونی پی هو کس)

( دیوان د عبدالقادر خان )

چه په دغه ډول شروع کېږی :

ساقی را وړه پیاله را کړه پانې بیدکا
د بهار د ر اتلو باغ و ته نوید کا
ستا په میو کی نشه دیك رنګ ده
چه ترفهم ئی یك رنګ سیه سفید کا
د رقیب خاطر به و لی لکه یخ شی
که یارمخ راته ښکاره لکه خورشید کا

عبدالقادرخان دخوشحال ختك زوی اوداشرف خان هجری کوچنی ورور دی چه په ١٠٦٣ هجری ١٦٥٣ ع کښی د نیا ته راغلیدی ،هرکله چه اشرف خان مغلو ونیو ، او داورنګ زیب له خوا په ١٦٨٣ ع کی د بیجاپور قلاته فرار، اوهلته بندی کړی شو، نو عبدالقادر خان وغوښتل چه د کام دمشری - اوسرداری - واگی په لاس و نیسی مگر وراره ئی افضل خان داشرف خان زوی دکام له خوا دسر داری - دورانث له حیثه بدفه

عهده وتاکل‌شو- اودده دامر په‌اثر عبد القادر او څه‌نورنفرهم دهغوی له‌خاندان څخه په قتل ورسېدل ، داهم ددې له امله چه افضل‌خان غوښتل په دغه ډول په تولو هغو کسانو باندې چه دخټکو د سرد اری- خیال ئې په سر کې درلود ، بریالی‌شی ، دنوموړی دمړینې نېټه په یقینی صورت نه‌ده‌معلومه .

دعبدالقادر خان اشعار تصوفی رنگ‌لری، او په‌پښتو کې‌زیات مشهوردی . نوموړی په ۱۱۱۲ ه کې دحضرت جامی یو سف زلیخا په‌نظم ترجمه کړیدی (په همدغه‌سلسله کې دی ٤۸ لمبر کتات وکوت شی) اوهمدارنگه ئې د شیخ سعدی گلستان اوبوستان په‌پښتو نظم کړیدی (په همدغه سلسله کې دی ۲٦ او٤۷ لمبر کتابونه وکتل‌شی) میجرراورټی لیکی چه دخلقو دافواه په قرار عبدالقادرخان خټک‌تقریبا د(٦۰) مختلفو اثارو خاوندی .

مستر هوکس‌دغی موجوده‌نسخی سره یویاد داشت ملګری کړی دی (د۱۸۸٤ دنومبر ۲۱) اوپه هغه کې‌لیکی چه دغه‌نسخه هغه ترخیل نظرلاندی دیوې بلی‌خطی نسخی‌څخه‌چه دافضل‌خان جمالګړې مال دی، استنساخ کړی‌ده ، د دیوان اشعار دالفبا دتورو په‌ترتیب تول شوی‌دی، اوپه پای کې ئې یو شهر څلوریځی اومخمس راغلی دی .

۵۷٤۲۳۲، پانې ۷۷ = ۱۰ نیم انچه په ٦ نیمو انچو کې دهری صفحی دکرښو شمېر ۱۳، اودهری کرښې اوږ دوالی ٤ نیم انچه چه‌بیله شکه په ۱۸ پیړۍ کې لیکل شوی ده .

(جی دار مستر)

بله نسخه : ددغی نسخی سر اواخر نامکمل‌دی ، څلوریزی اولینی مخمسات په دغه نسخه کې دیوان له‌غزلیاتو څخه دمخه نیول شوی دی چه دالف له ۷ پانې نه شروع کېږی : ددغه لاندې اشعار چه دنورو شاعرانو مال‌دی له دیوان سره یوځای شوی دی (٦۲ - ۷۷ پانې)

۱ - دالف ٦۲ پانه دفیض محمد غزل .

۲ - دب ٦۲ پانه داشرف‌خان غزل .

۳ - دب ٦۲ پانه‌دفقیر افضل‌خان . غزل

٤ - دالف ٦۳ پانه دسردارخان خټک مخمس .

۵ - دالف ٦۵ پانه‌دخوشحال خان‌خټک مخمس په‌دووبرخو کې، دلومړی- برخی د پاسه دغه‌جمله دعنوان له‌حیثه اشتباهاً لیکل شویده :

«ذکر مخمس صدر خوشحال خان خټک» د دغی مجموعی اشعار دخوشحال خان په‌دیوان کې (۱۸٦۹ دپښور چاپ٤٦۳ ٤٦۷ مخ) لیدل کېږی .

٦ - دالف ٦۸۰ پانه دنواب علی محمدخان غزل .

۷-دالف۷ پانه‌دنواب‌علی‌محمدخان په‌مرګ دمحمد کاظم‌خان خټک مرثیه د نوموړی نواب د مړینې نېټه ۱۱٦۲ هجری = ۱۷٤۹ع تاکل شوی ده .

۸ - دالف ۷۲ پانه دسیدعبدالصمد پیرزاده مخمس .

۹ - دالف ۷۵ پانه دحافظ رحمت خان مخمس .

۵۷۳۹۳ پانې ۱۳٤ $\frac{1}{4}$ ۱ په $\frac{3}{4}$ ٦ انچودسطروشمېر ۱٤ دهرسطر

طول $\frac{1}{2}$ ۵ انچه (۱۸ پیړۍ) په اخر کې لیکل شویده .

(گیو - ولیم هملتن)

درحمان دیوان : درحمان داشعارو څخه عبارت دی چه په لاندې ډول شروع کېږی :

هسی یادئی همیشه‌مدام لحما  چه‌اورادئی‌په‌هرصبح وشام‌لحما
هر کلام‌چه‌بی‌دستاله‌یادوکړم  سل‌توبې دی په همه کلام‌لحما

ملا عبدالرحمن چه عموما په‌رحمان باندی یادیږی د پښتنو دسترو ملی شعراؤ څخه یوعام پسندشاعر دی چه نوموړی داورنګ زیب د امپراتوری- په وخت کښی مشهورشو ( ۱۷۰۷ -۱٦۵۳) میجر راورټی‌دده‌په‌باب کې‌وائی : رحمان دغوریاخیلو تپی ته چه د مهمندو د کام یوه پښه ده منسوب دی نوموړی به هزار خانی کښی چه د مهمندو په علاقی پوری مربوطه او دپښور دپنځه ګونو ایالاتو د نواحیو څخه ده، اوسېده،رحمان عالمانه شخصیت او دروېشانه ژوند درلود، دیندار، اوتقوی‌دار سړی‌ؤ، چه‌له عالم‌اوعالمیانوخخه‌لیری اوسېده ، مسترهوکس چه درحمان ددیوان له۲۹ کاپی‌سره‌یاد داشتونه یوځای کړیدی په‌هغو کښی وائی چه « عبدالرحمن» د مهمندو دابراهیم خیلو تپی ته منسوب اودبهادر کلی د اوسېدونکیو څخه و ، مګر څومودې هزارخانی ته ولاړ اوهلته ښځ دی دنوموړی د مړینی نېټه په‌یقینی صورت‌معلومه نه ده‌خوداسی خیال کېږی چه‌ښائی د ۱٦۱۳ ، او۱٦۹۰ع په‌حدودو کښی به‌وی‌هغه‌وخت چه‌رحمان‌بابا دزلمیتوب په ډ ګر کښی قدمونه وهل خوشحال‌خان دځوانی‌ر له دوری تېرشوی اودډېرو کلوبو ډاسردار ؤ

درحمان اشعار په‌دغه‌نسخه کښی‌همدارنګه په‌دوو نورو نسخو کښی چه په لاندی ډول معرفی کېږی، ددوو بیلو دېوانونو به شکل ضبطېږی اوهمدارنګه په‌دغه‌ترتیب په‌څونورومطبوع نسخو کی چه‌په ډېلی کی خپری شویدی اوهم دمستر هوکس د۱۷۷۷ کال دلاهوردچاپ په‌نسخه کی لیدل کېږی ،مګر دبمبئی د۱۸۸۳چاپ په‌نسخه کښی همدارنګه دمبحر راورټی به‌قلمی‌نسخه کی (چه‌پدې‌سلسله کې‌دی۳۰ لمبر کتاب وکتل‌شی) ددیوان ټول اشعار پرځای دالفبا دتورو په‌ترتیب ضبط شویدی په‌دغه‌نسخه کی چه‌مونږئی په‌خپرولو بوخت‌یو دمطبوع نسخی

لومړی دیوان ددوهم دیوان په‌ځای درج کړ شویدی، اودغزلو په‌ترادف اوتسلسل کی تغیر اوتوییر لیدل کیږی لکه چه‌لومړی غزل یه‌دغه‌نسخه کی دمستر هوکس په‌مطبوع نسخه کی اووم غزل دی لدې‌نسخې‌سره دخوشحال‌خان‌خټك دستاینې یوشعر یو ځای شویدی (دب ۷٤ پانه) چه‌په‌چاپی‌دیوانونو کی‌هیڅ نه لیدل کیږی اوهمدارنګه درحمان‌ددیوان یدغه‌لاندی یوه نسخه کی هم نشته پدی‌نسخه کی څو پنسلی اصلاحی ځایونه هم شته ، ددغی نسخې مستنسخ سیدغلام‌علی دسون‌پت اوسپدونکی‌دی تمت تمام شد دیوان‌عبدالرحمن بوقت‌سهر ازخطخامه‌سیدغلام‌علی‌ساکن‌سون پت ۲۸۲۹- ۱۲٤ پانې۱،۱٤،۱ په ، د۸٤،انچو کی‌دهری‌صفحی کرښی ۱۳ دهری کرښی اوزدوالی ۵انچه په‌اروپائی کاغذچه‌دغه‌مارك د۱۸۹۵Moin'es اودغه‌مارك د۱۸۵۹Williamskelt لری،لیکل شویده اونپته ئی د۱۸٦۱ دجون۱۷ ده . (هوکس)

بله‌نسخه: پدغه نسخه کی‌ددوارو دیوانونو ترتیب(لومړی‌اودوهمه برخه) د۱۸۷۷ع کال دلاهور له‌چاپ‌سره برابردی ددغی نسخی مستنسخ میرزااسمعیل‌دی دنسخی‌پای: تمت‌تمام‌شد کتاب‌مستطاب دیوان‌عبدالرحمن بزبان افغانی بدستخط حقیر میرزا اسمعیل (؟) هشتم ماه ذی حجه ۱۲۷۷ مطابق هفدهم جون‌سنه ۲۸٦۱ع

۲۸۳۰-۱۳۹پانې ۱۱انچه‌د $7\frac{1}{4}$ انچو کی د هری صفحی کرښی۱۵ دهری کرښی‌اوزدوالی-او٤ په۵انچه‌دانسخه‌خوراز‌یاته ښکلی اوپه‌اروپائی کاغذچه‌دغه‌مارك‌لری Smithmemgeriam اولیکلی‌ده ، اونپته ئی د۱۸۷۲ع کال دمی ۱۵ دی منتخبات اشعارافغانی ۱۰ مخ (هوکس)

بله‌نسخه: دانسخه له‌پخوانۍ‌نسخې‌سره‌مطابقت‌لری، مسترهوکس په‌هغه یادداشت کی چه‌ددغی‌نسخی سره‌ئی یوځای کړی اونپته‌ئی د ۱۸۸٤ کال د دسمبر ۱۸ دی‌لیکی: پرله‌پسی‌لمبر ٤۵۰۱ پانې ۳-۸۹ صحی ۱۳۱ پر۱٤ انچو په٦انچو کی دهری‌صفحی د کرښو شمیر ۱۵ دهری کرښی اوزده۳صحیح ۳ پر٤انچه چه‌قطعا په۱۸ پېړۍ کی لیکل شویده . (میجرراورتی)

درومرجان: دعبدالحمید له‌اشعاروڅخه عبارت دی او په دغه ډول شروع کیږی :

الهی دمحبت سوز اوګذار را
په دااور کی دستی سمندر ساز را
تن‌پرور بلبل‌دی‌عیش کاندی پرګلو
پروانی لره با ورځما ګداز را
که‌می‌نازکایار په یاردوزو سترګو
دادعیش په میخانه کی د مجاز را
چه‌نظر له‌ناتوانۍ وچانه نه کا
دهغو بیمارو سترګو نازو نیاز را

عبدالحمید چه‌حمیدورته وائی دپښور سره څرمه دماشو خیلود کلی‌داوسپدونکوڅخه‌دی چه‌د۱۷ پېړۍ په دوهمه نیمائی کی‌داورنګزیب د امپراتوری پەوخت کښی‌ئی شهرت وموند اشعارئی‌دالفبا دتوریو په‌ترتیب‌ټول شوی‌دی ، اوپه پای کی‌ئی مخمس هم داخل کړی شویدی .

دنوموړی دیوان په‌بمبئی کی لتوګرافی شوی دی ( ۱۲۹۵ هجری) ګلشن روهم دعبدالحمید داشعارو یوه برخه‌لری همدارنګه حمید په پښتو ترجمه دوی قصی چه یوه ئی د عشق نیرنګ‌اوبله‌شاه‌ګدا ده‌هم‌لری(۵۰لمبر کتاب‌دی‌په‌همدغه لړکی وکتلی‌شی) خیال کیږی چه‌نوموړی به په ۱۷۳۲ع کی وفات شوی‌وی، دراورتی دمنتخباتو (۸۵ مخ دی وکوت شی) .

پرله‌پسی لمبر٤٤۹۸پانې ۱۸۸- ۸انچه په ۵ صحی ۱ پر٤ انچو کی‌دهری صفحی‌د کرښوشمیر ۱۳دهری کرښی طول۵صحی ۱پر۲ انچه ، نسپته ۱۱۰۸ه ۱٦۹٦ عیسوی (میجر راورتی )

دنجیب‌دیوان : دنجیب‌داشعارو څخه‌عبارت‌دی چه‌په‌لاندی ډول شروع کیږی:

جفا کاره بی وفا ده دا د نیا
بی وفا هم بی بقا ده دا دنیا
په‌ساعت کی‌مخ‌څر ګندکاندی بیانه‌وی
ته به وائی چه برښناده داد نیا
ډېرعالم‌دی په ارمان ور لحنی تللی
نه به شی نه دهیچا ده دا دنیا

ددغه‌شاعر په‌باب څه‌معلومات لاسته نه‌دی راغلی خو دمیجر راورتی‌دیوه یادداشت څخه‌دومره معلومیږی چه‌نوموړی شاعر دیوسف زوتپی ته‌منسوب‌دی پدغه‌نسخه کښی وروسته له غزلو څخه درباعیاتو یوه مجموعه‌هم‌شته(۱۷٤-۱۸۸پانې) ددی نسخی مستنسخ ګل‌محمدپښوری دی دنسخی‌پای: تمت تمام شد دیوان نجیب به حسب ارشاد قبلهٔ کونین مربی داریسن ... حضرت صاحبزاده محمدی جیلو سلمه‌الله تعالی از دست فقیر پرتقصیر ګل‌محمدپشاوری‌سلخ‌ماه صفرسنه۱۱۰۸ ... دانسخه په‌ډېر احتیاط دیو شمیر نورو قلمی نسخو له مقابلې اومقایسی څخه وروسته داحمد هشغری په واسطه چه پخیله هم شاعر ؤ زماتر نظرلاندی استنساح‌شویده اوښائی چه‌دابه یوالحنۍ‌نسخه وی چه‌په‌ډېراحتیاط د څو نسخو له مقابلې اومقایسې وروسته لاس‌ته‌راغلی‌ده دانسخه‌دغلام جیلانی مشاق په قلم ۱۸۷۲ کال دمی‌په۱۵ لیکلی شوی‌ده همدارنګه درحمان‌به‌هکله یادداشتونه چه‌دهوکس‌په‌قلم د۱۸۳۳کال دمی‌په۲٦لیکل‌شویدی لدغې‌نسخی سره یوځای‌دی دنسخی‌پای : تمام‌شو پتاریخ د څلورم دماه می سنه۱۸۷۰عیسوی په‌دستخط دفقیر حقیر غلام جیلانی پشاوری ٤۳۹۳لمبر ۱۱۱ پانې ۱۳ نیم انچه په۸انچو کی دهرمخ‌د کرښو شمیر۱۸دهری کرښی‌طول ۵نیم‌انچه دانسخه په اروپائی کاغذ

چه‌دغه‌چاپ ۱۸۵۰۱۱ او ۱۸۵۰ داچاپ‌لری ډېرښکلی‌لیکل‌شوی نېټه ئی ۱۲۷۱هجری = ۱۸۵٤عیسوی‌ده . (میجرراورټی)

بله‌نسخه: یه‌دغه‌نسخه کی‌ټول‌هغه‌غزلی‌چه‌یه‌دووپښوانیونسخو کی یه‌دوه دیوانو وېشل شویدی ، ټولی‌یوځای دیوه دیوان په ډول دالفبا دتوریو په‌ترتیب‌داخل کړی شویدی لسکه‌چه د۱۸۸۳ کال دبمبئی‌په‌چاپ کړی‌شوی نسخه کی هم، همدغه ترتیب ساتل شویدی .

مستنسخ ئی‌سراج الدین ملتانی‌دی تمت کتاب تمام‌شد کتاب‌دیوان عبدالرحمن افغان بتاریخ ۸ ماه صفرا لمظفر سنه ۱۲۷۱دستخط نیازاگین سراج‌الدین ملتانی .

مسلسله‌لمبر ٤٤۹۵ / پانې ۱۲۰ ۳/٤ په ۹ ۱/٤ ۱٦ انچو کی

دکرښوشمېر ۱۲ دهرسطرطول ٤انچه ظاهرا په۱۹ پیړۍ کښی لیکلی شویده (میجرراورټی)

داحمدشاه‌بابا دیوان(۱): داحمدشاه ابدالی‌له اشعارو څخه عبارت‌دی اوداسی‌شروع کېږی :

مصطفی یامصطفی
مصطفی فریاد رس یا مصطفی
مصطفی یامصطفی فریادرس یامصطفی
ربه زړه می ډېر وېر ېږی
درسول کفی می یا دېږی
دعشق اور ئی را لګېږی
فریاد رس یا مصطفی یامصطفی

اعلیحضرت احمدشاه‌بابا دردران چه د ملت لخوا دپلار اوبابالقب ورکړشویدی دهرات دحکمران ز مانخان سدوزی زوی‌دی، مورئی زرغونه نومېده اوخورااننګیالی پښتنه‌میرمن‌وه احمدشاه دنادرافشار دهجوم په‌پښه کی(۳۸-۱۷۳۷ع) دپښتنیږ دستی‌دعسکرو په قوماندانیږ دنادرافشارپه لښکرو کی وټاکل شو، وروسته‌ترهغه‌ئی نادرپه خونړیو جګړو کی خورا زیات کفایت ځرګندکړ ، اوافشار نادر دده درشادت او دتسنن دمذهب‌دیووالی له‌کبله‌چه سره درلودئی احمدخان‌ته په درنه سترګه کتل‌دی نادر دمهماتو په حل او عقد کښی ورسره ملګری‌و ، د افشارنادر له‌وژلوځخه وروسته‌ئی دنوموړی حرم دهغه دهر زه لښکرو په مقابل کی وساته اوښځی ئی په‌عزت سره ترمشهده‌پورې ورسولی بیانوله خیلی تقریبا شپږ زرو پښتنیږ اواوزبکیږ مفرزې سره په توغ اونغاره خپل مرکز قندهار ته راغی، اودلته دملت لسه خوا په ۱۷۳٤ میلادی‌کال دافغانستان ټولواك وټاکل‌شو احمدخان پس‌له‌خیلی تاجیو شیږ په‌احمدشاه ملقب اودهغه کفایت اوسیاسی‌لیاقت له کبله چه درلودئی دپښتنوټول قبائل‌ئی پرځان راغونډ کړل ، بیائی دلومړې‌ځل لپاره کشمیرونېږ پنجاب ئی‌فتح کړ ، تر ډېلی اواګری پورې برمخ ولاړ ، دامهال د مرېټه ومحدی قواوی په‌پنجاب کښی‌سره غونډی اولاهورئی ترسرهنده پورې تسخیر کړ ،غوښتل‌ئی‌چه‌ملتان اونورځایونه‌هم ونیسی ،دمغلیه حکومت دهغوی له‌مقابلې‌څخه چه‌دخارجیانو لخواهم‌تقویه شویوې عاجزۀ نواحمدشاه دجهاد په‌غرض اودښتنو، مغلو دناموس په ساتنه پنجاب‌ته متوجه‌شو، په‌نتیجه کښی دهند درایانو متحده قواوې چه‌دانګریزانو، فرانسویانو مرسته هم ورسره وه «دپانی‌پت» په‌تاریخی ډګرمغلوبی کړې بیائی‌دمغلیه حکومت په مقابل کی تاج‌بخشی وفرمایله‌هند ئی پرېنود، اوخپل وطن ته بر یالی بېرته راغی .

په‌قندهار کی پس‌له‌عسکری تجهیزاتو دغرب په‌اور حرکت وفرمایه ، داپلائی نیشاپور اودښوانیږ پارتیا ولایت فتح اودافشارنادر وارثانوته‌ئی وبالنه ـ بیادکابل له لیاری پربخارا باندی‌ورغی خووروسته له‌عسکری‌غلبی‌ئی درسول اکرم (ص) دخرقې په‌مقابل کښې بخاراهم پرېښودله ، بېرته له مبارکی خرقې‌سره دکابل دلیاری قندهارته راغبرګ شو ، الحاصل احمدشاه‌بابا په لږ فرصت کی دافغانستان سترهټولوا کی بېرته تشکیل اودزابلی محمود دسلطنت زیاتره برخی ئی بېرته په‌افغانستان پورې ضمیمه کړې. دی یومتدین ،مجاهد، عادل شجاع سترټولواك‌و ، دده په‌دوره کی دافغانستان ثروت، امنیت اداره خورا سمباله، په‌هره‌جګړه کی بریالیؤ ، احمدشاه بابا په(۱۷۷۳) میلادی‌کال‌پداسی‌حال کی چه‌عمرئی تر پنځو سو کلو تېرشویوو، وفات‌اوپه قندهار کی دفن شو، هغسی چه د برتانیی دموزیم دکتابخانې فهرست لیکلی دی دده د ژوندانه احوال اودبابا داولادې کارنامی‌دعبدالکریم علوی په‌قلم په‌پارسی ضبط شوی اوپه ۱۲٦٦هجری‌کال په‌لکنهو کی چاپ شویدی .

---

(۱) داحمدشاه‌بابا ددیوان یوه‌نسخه چه خورا ښکلی لیکل شوی وقایه‌ئی‌چرمی او۱۰۹ پانې لری ، خط نستعلیق د پارسی په‌طرز مجدول ګرد سره تذهیب شوی کاغذئی ورېښمین دی دانسخه‌فوق‌العاده نفیسه ده او دمطبوعاتو په کتابخانه (ګ کابل) کی‌موجوده‌ده، شروع ئی لسکه دبرتش موزیم دخطی‌دیوان‌غوندی‌ده ـ اوپدی‌بیت باندی پایته‌رسېږی :

احمدشاه دبېلتون چرپه زړه‌څرخېږی  دفراق او ښکی توئېږی

په‌حاشیه‌باندی په‌سره مرکب ځینی اصلاحات هم موجوددی‌لیاهغه بیتونه چه‌له‌متنه پاته‌شویدی په‌حاشیه کښی‌لیکل شویدی : داهم‌بایدوویل‌شی چه‌داحمدشاه‌بابا دیوان په‌کابل کښی‌هم په‌حروفی‌مطبعه کی چاپ شویدی .

سلطانمحمد بارکزی دتاریخ سلطانی په‌نامه یو کتاب لیکلی اوهغه په ۱۸۸۱ عیسوی کال په بمبئی کښی‌چاپ‌شویدی، همداډول داحمدشاه بابا دسترو کارنامو بیان دانفستون په (کنګهم اف کابل) نومی کتاب کی له (۲۷۹- ۳۰۰ مخونو پوري ۲جلد) اومنظومه شهنامه، چه‌دموزیم په۱۲ لمبر کی‌ضبط شوی ، مفصل لیکل شویدی، ضرورتمندان دی رجوع ور ته وکړی - خود احمدشاه ددیوان دغه‌نسخه دعلی‌محمد چاریاری په‌قلم استنساخ شویده چه دبرتانیې په‌موزیم کی خوندی‌ده .

پرله پسی لمبر ۴۲۳۷ - ۱۳۱ پانې- $8\frac{1}{2}$ په۱۶انچو،دسطرو شمېر ۵تر۱۸ دهرسطر طول $4\frac{1}{2}$ انچه، دانسخه د۱۹پیړۍ په‌لومړی‌سر کی‌لیکل‌شویده . (دارمستتر)

معجزات : یوه منظومه شرحه‌ده‌حضرت رسول په معجزاتو مشتمله اودحافظ عبدالکبیر اثردی پدې دول شروع کېږی :

هغه‌علم چه دخدای دی ترې عاجز دخلقورای دی
نه‌خبر پرې جبرئیل دی نه‌خبر پرې میکائیل دیء
نه‌خبر پری اسرافیل دی نه‌خبر پری عزرائیل دیء
نه خبر پرې سفره دی نه خبر پری بره دیء

دکتاب مولف دخیل اثر په‌مقدمه کی لیکی چه‌ده داکتاب له‌عربی‌څخه‌داحمدشاه دسلطنت په‌دوره کی (۱۷۴۸ - ۱۷۵۴ع) د۱۱۶۶ هجری او۱۷۵۳ع مطابق ترتیب کړی ، همدا ډول عبدالکبیر، یوه بله منظومه چه دسیف‌الملوك نو بهاری د (درمجالس) له ترجمې څخه عبارت‌دی، او دفع الفقر نومی کتاب هم دده اثر اویوشمېر لنډې مذهبی منظومې هم‌ده‌ته منسوبی‌دی داموجوده اثر خوراډېر ځلی چاپ شوی او پدی بیتو باندې ختمېږی :

چه و تا وته و وایم زه‌ئی وکښم وئی نمایم
وعا قل ته اشارت دی کبیر کړی نصیحت دیء

ددې نسخی ملحقات په‌لاندی ډول سره دی :

۱ - دب ۱۷ پانه ۱۲۷،ذعبدالکبیر دلنډو منظومو اثر چه لومړی‌منظومه‌ئی به‌مناجات کښی‌ده‌دفوائدالشریعته(۱۰۸مخ۱۳۰) د۱۸۸۷کال‌دډیلی‌چاپ‌به‌حاشیه کی‌لیتوګرافی‌شوی‌چاپ‌ته‌رسېدلېده

۲- ۱۲۸ - ۱۳۰ پانې مناجات دمطیع‌الله(۱)

اثر چه درشیدبیان د(۳۰ - ۴۱ مخ ) په حاشیو د ۱۸۷۴ کال دپېښور په‌چاپ کی لیتو ګرافی شویدی - ددې نسخی مستنسخ محمدعلی نوماند .

پرله‌پسی لمبر ۴۴۹۴ پانې ۱۷۴ ۱۲ پ $\frac{1}{2}$ ۵ انچو ،

دکرښو شمېر ۱۱، هره کرښی ۵ انچه - دانسخه ښکلی اوپه غټو توریو لیکلی شویده، مجدوله، اومذهبه ده، تاریخ ئی دمحرم ۱۳ سنه ۱۱۸۷ ه = ۱۷۷۳ع . (میجرراورټی)

دشیدا دیوان : عبارت دی دمحمدکاظم خان شیدا له

منظوم اثر څخه چه‌داسی شروع کېږی : راقم ددې صحیفی محمدکاظم شیدانخلص، خټك‌نسب، حنفی‌مذهب ، نقشبندی مشرب غفرالله تعالی ذنوبه وسترعیو به په عرض دسخن شناس روشن قیاس رسوی : «هرچند به نزدخرد مندان شان دسخن رفیع وبلند دی »

کاظم خان دمحمدافضل خان زوی اود خوشحال خان ستر خټك سردار لمسیءدی، نوموړی‌د۱۱۴۰ هجری د ۱۷۲۷میلادی مطابق زوکړی اودخپل پلار د مرګ په مهال کښی دده مشر ورور اسدخان دکام په سرداری‌ وتاکل‌شو ، خوهرکله چه دی دخپل ورور، داشتباه مورد وګرزېده وتښتېدی او څوکاله ئی په کشمیر کښی تېرکړل، هوری ئی دعلم‌طلب کاو ، اوښه‌عالم شو، بیائی ډېره موده په‌سرهند کی تېره کړه - اما بیا دښتنو ه مشر تابه په رامپور کی مقررشو، او هغه ځای ئی دخپلی هستوګنی لپاره غوره کړ، ډېره موده ئی هوري تېره کړه (شیلکسن راورټی‌ص ۳۰۶ )

دانسخه په‌یوه مقدمه چه دمولف له‌خوالیکل شویده شروع کېږی :

مولف پخپله مقدمه ئی لیکی‌چه‌دده یوشمېر غزلیات په‌یوه مجلد کی دالفبا په ترتیب ۱۱۸۱ هجری د۱۷۶۷ ع کال مطابق مرتب‌شوی‌و ، اودخلفا وراشدینو، حضرت‌ابوبکر، حضرت‌عمر، ذی نورین، حضرت‌علی اوبهاوالدین نقشبندی ، شیخ احمد او غلام معصوم چه عبارت‌دی دمولف له‌مرشدانو، او مربیانو څخه دښتو اشعارو په‌باره کښی هم‌بوبحث‌پدې اثر کی موجوددی .

اصل‌دیوان له ۳۰ ب پانې څخه پدې ډول‌شروع کېږی :

(۱) دمطیع‌الله دقلمی د یوان یوه نسخه په ۱۴۸ پانو کی دکابل دمطبوعاتو په‌کتابخانه کی شته ، د دیوان تر۷۰ پانو پوری مجدول اوبعد له‌هغه تر۱۰۲ پانو پوري جدول نه لری خط هم تغیر پیدا کړی اوله ۱۰۲ پانې څخه وروسته بېرته دلومړیء لیکوال خط په مجدولو پانو کی شروع شوی اوپه ۱۰۳ پانه باندی اصلی کاتب کښلی‌دی - ( شیخ نیاز ګل دپنجشنبه په ورځ ) وروسته تردې ترجمې بند، اوپه حمد اونعت کښی اشعار ددیوان ترپایه پوری ادامه مومی سرواخرنه لری، اوحواشی ئی شرېدلیدی،احوال ئی به‌پښتانه‌شعرا کی وګورئ .

الـهـی د محبـت در دو فغـان را
پەمعصوم کناه دنور غوندې جانان را
چه مـژ کـان‌می دجوهر حکم پیدا کا
هر نفس لکه مرآت حیران چشمـان را

قصائد، رباعیات، قطعات او نور اشعار ددې دیوان په‌اخر کښی ملحق شویدی (۱۰۶- ۱۴۷) یوشمېر نور اشعار دلحینو مخونو په حواشیو کښی لـه یـاد داشتو سره لیـکل شویدی دانسخه بی‌له‌شکه‌شیدا هغه‌داشعارو نسخه‌ده چه(میجرراورتی)هغه‌په لاهورکی لاسته راوستلی‌ده اولکه‌چه راورتی لیکی : نو موړی نسخه پخپله دشـاعر په ذریعه د (میـان محمدی) د میان عبدالله سرهندی‌دزوی لپاره چه‌یوتن، دشیدادروحانی‌مرشد له منسوبینو څخه و ، استول شو یوه، اویوالحینې نسخه منحصره په‌فردوه، ددې نسخې تاریخ په لومړیء مخ کښی لیکل شو یدی .

دشیدا ددیوان یوه بله‌نسخه تر لمـبر ۲۱ - ۴۷۱ لانـدی دلیون بورنـګ اودریمه ئی تـر (۱۸۰۱) لمبر لا ندی چـه دکامکارخان‌دیوان‌ئی هم په‌اخرکی‌الحاق شویدی ، اوله ۱- تر ۱۴۶ مخوپوری دشیدادیوان دی دهیوز لخوا پیدا شـوی ، او دواړې په ۱۹ پېړۍ کی لیکل شویدی ، مستر هو کس ئـی په اخرنی نسخه‌باندی یوياد داشت لیکلی او وائی چه دانسخه دراورتی له‌اصلی نسخی‌څخه استنساخ شویـده او داندیا آفس لایبرری په کـتابخانه کی موجوده ده ، تاریخ ئی داګست ۱۰ سنه ۱۸۷۶ع دی .

پرله‌پسی لمبر ۲۸۰۱ پانې ۱۰/۲۰۰ صحیح ۴،۳ په ۷ انچو دهرمخ د کرښو شمیر ۱۵، او دهری کرښی طول ۵، ۱، انچه دانسخه په‌ډېر احتیاط په‌اسی یوه کـاغـذ ، چه د غـه مـارک Smith andemey mier Tiume ورباندی‌شته، لیکل شویده ، نېټه‌ئی ۱۸۷۲ع دی (هوکس)دشیدا ددیوان یوه بله‌نسخه‌ده چه دکامګار ددیوان په واسطه تعقیب کښی :

۱ - له لومړی پانې څخه تر ۶۴۱ دشیدا دیوان .

مسترهوکس‌به‌هغه یادداشت کی چه ددغی‌نسخی سره یوځای ګړی شویدی، لیکی چه : نو موړی نسخه ده ۲ لمبر اصـلی نسخی څخه چه بی‌له شکه دراورتی نسخه ده، استنسـاخ شویده یوه بله نسخه هم چه دمسترهوکس لپاره اودهم‌هغه لیکو نکی په خط لیکلی شویده چه دکامګار، اومیرزا د دیـوانـو سره یوځای (داندیا آفس) په کـتابخانه کی موجوده ده د نوموړی نسخی‌نېټه ۱۸۷۶داګست ۱۰دی.ددغی‌نسخی‌مستنسخ غلام جیلانی پېښوری دی .

تمت تمام‌شد په‌تاریخ شپاړسم دجولائی سنه ۱۸۷۲ ع پـه دستخط دغلام جیلانی پېښوری .

۲ - ۱۷۴د - ۱۹۸ دکامګارخان دیوان چـه په دغـه ډول شروع کېږی :

په ثنا بـه صفحه کـړم ا بتدا — چه‌ئی نشته ابتدا ، او انتها
دمولا ثنا، صفت ورځنی اورې — وهرځېزته چه نظر وکادانا
له‌یوه‌شاهکی‌زیباصورت‌پیدا کی — په‌خیل‌حمداوپه‌ثنائی کاګویا
له‌وریځی‌قطره‌واچوی‌دریاب‌ته — تریې‌پیدا کا قیمتی لؤلؤ لالا

دغه‌لاندینې‌یادداشت چه‌دمستر هوکس‌په‌ذریعه لیکل شویدی او نېټه ئی د۱۸۸۴ کال دنوامبر میاشت ده له هغه سره یوځای کړ شویدی :

پښتو اشعار دخانزاده کامکارخان‌چه دخټکو دمشهور سردار (دزېږېدنی کال ۱۶۵۳ع) خوشحال خان‌خټک له‌ځامنو څخه‌دی.

دانسخه دکامګارخان داشعارو داصلی نسخې څخه چه اوس په‌افضل‌خان خټک جمالګړی پورې مربوطه‌ده دیو، تـی، پـی ، هوکس، ترنظر لاندی په‌پېښور کی‌استنساخ شویده، دد غه‌شاعر وجود پخوا مجهول وُ، خوپه‌پای کښی مسترهوکس د غه شاعر دافضل‌خان دزړو کـتابونو دمطالعې او کـتنی په لړکی معلوم اومعرفی کړ .

ددغی نسخې مستنسخ غلام جیلانی پېښوری دی .

تمت‌تمام‌شد په‌تاریخ‌دپنځم داګست سنه۱۸۷۲ع په دستخط دفقیر حقیر غلام جیلانی پېښوری .

پرله پسی لمبر ۳۹۴ پانې ۱۴۶/ ۹ انچه پـه ۵ صحیح ، ۴،۳ انچو کښی دهرمخ د کرښوشمیر۸، دهری کرښی‌اوزدوالی ۴ انچه، نېټه ۱۲۰۹ هجری = ۱۷۹۴ عیسوی (هملتن)

دقاسم علی خان اپریدی داشعارو څخه‌عبارت دی، دادیوان دقادریې له‌شجری‌سره دقادریی دطریقی‌دخلیفه ګـانو د نومونو دمنظومی تذکرې څخه مراددی چه پدغه ډول شروع کېږی .

مو منان خبره او ری په‌رښتیا — زه‌سنی‌یم لخماقسم‌دی په‌خدا

چه احوال ئی دشجرې پخپل بیان کړم

تـاسی مـکوی‌ء شبهه پـکښی پیـدا

اوداسی پای ته رسېږی :

قاسم علی ګـنهګار بنده دی — له کرم‌دیدار راوښئی مولا

تمت تمام‌شد شجرهٔ قادریه بدستخط فقیر حقیر من تصنیفات کمترین‌مریدان قاسم‌علی خان اپریدی اتمام یافت .

د دیوان اصل اشعار دب دپانې څخه شروع کېږی :

حق مـالک‌دکل جهان‌دی رب لحمـا
چه څښتن د هر مکان دی رب لحمـا
نهر هر چهر ته ...؟ وطن وکاندی
په ظـاهر، باطن عیان دی رب‌لحما

قاسم علی‌خان اپریدی دقادریی دطریقی بیرو ، د فرخ آباد داوسېدونکو څخه وُ چه سید کـلام‌الدین دهـغه د دیوان ددغی

لاندنی نسخی کاتب‌دی : (لمبر ۳۹۰) دنوموړی نسخی په‌پای کی لیکل شویدی چه :

قاسم علی‌خان په‌هندی او پارسی ژبو هم ډیر دیوانو نه لیکلی دی : نوموړی کاتب وائی چه : قاسم‌علی له انگلیسی کشمیری اوتورکی ژبوسره هم آشناؤ، مصنف د خپل دیوان په پای (الف ۱۳۳ پانه) کښی لیکلی دی، دهغه اشعار د حافظ غلام‌محمد په کومك په ۱۲۰۶ هجری = ۱۷۹۲ ع کښی ټول اوتدوین شویدی .

دیوان افریدی بدستخط فقیر حقیر کثیرالتقصیر من تصنیف قاسم‌علی‌خان افریدی‌بروز پنجشنبه تحریر بیستم شهرربیع الاول سنه ۱۲۰۹ جلوس‌شاه‌عالم‌روندبادشاه‌جلوس سنه۳۶،اتمام‌یافت . لکه‌چه‌ولیدل‌شودانسخه د۱۲۰۹ه‌کال‌دربیع‌الاول‌په‌شلم‌دپنجشنبی په‌ورځ دشاه‌عالم پرانده پادشاه د۳۶جلوس په کال چه د۱۷۹٤ عیسوی کال داکتوبر په ۱٦ استنساخ شویدی ، دانسخه داسی معلومیږی چه‌دمصنف اوشاعر په‌خپل خط لیکلی شو یده، لکه ددغی نسخی په ډیرو ځایو کی لیدل کیږی چه په اشعارو کی اصلاحات شویدی، اوهم‌ځینی‌شیان وربانديې زیات کړی شویدی اوخط ئی کټ‌مټ هغه خطدی چه‌دغه‌نسخه سر تر پایه وربانديې لیکلی شویده ، او همدا رنگه په‌هغه کی د مصنف مهر لیدل کیږی ، اوهمدا ډول ددیوان په‌سر کی لیکلی شویدی چه دغه دیوان لومړنیږ مسوده دهچه لیکلی شویده چه عبارت ئی‌دادی:

(اول‌مسودهٔ دیوان افریدی دشعرهره کرښه په ډیر احتیاط په‌سرو کرښو خط کشی‌شویده چه‌یوه‌له بلی‌نه‌جلا کړی شویده، ځینی کلمی گډی اوپه مرکبو تورو ولیکلی شویدی اوځینی په قرمزی رنگ ښکلی شویدی ، ددغه دیوان سره‌نور اشعار هم یوځای کړی شویدی له(۱۳٤-۱٤۳) چه‌په‌خپله دقاسم علی خان ائردی اوعنوان‌ئی (خوابنامه) دی‌چه دغه‌شان شروغ کیږی :

تا سی واو ری‌ـ مو من اهل دین
الله یـو دی لا شـر یك للمتقین
محمد با ندی درود شه تل تر تل
اوس ته‌پوه په‌خوابنامه شه ځمادل

☆ ☆ ☆

او خوابنامه دغه‌شان پایته رسیږی :
له په‌خوب توغ نغاره تانه لیده شی
چه‌پادشاه یـا امرا څه بخشیده شی
قا سم علی افر یدی اوس ژبه بند کړه
پښتانه، ته‌په‌خوابنامه باندی‌خورسند کړه

څرگندیږی چه د اپریدی شعر ادنی در جه او گرا مری غلطی گانی هم‌لری ،په پای کښی لیکلی‌ده :

تمت تمام شد په د ستخط حقیر فقیر کثیر التقصیر من تصنیف‌قاسم‌علی‌خان‌افریدی‌اتمام‌یافت، بروزادینه‌وقت غرمه بیست ویکم‌شهر ربیع الاول سنه۱۲۰۹ه .

پرله‌پسی‌لمبر۳۹۵دپانو شمیر ۱٤۹- ٦په٤انچو کی، دهرمخ دکرښو شمیر ۱٤ دهری کرښی‌طول ۳ انچه دچاپ‌نپټه ۱۲۳۱ هجری ۱۷۱٦ عیسوی . (هملتن)

دقاسم علی‌خان د خوابنامی د دیوان یوه بله نسخه ده چه دقادریی شجره هم‌لری : دانسخه دټهری‌نسخی دنقل‌څخه عبارت دی. لکه چه‌پورته مو دهغې ذکرو کړ : دانسخه په ډیر احتیاط نقل شویده، اواغلاط ئی‌هم پدې‌نسخه کی‌صحیح شویدی .

مستنسخ ئی‌سید کلام‌الدین قادری د قاسم‌علی خان د مریدانو څخه‌دی چه‌ډیر عاشق په‌لقب ئی‌ملقب کړیدی .

ددیوان پای (۱٤۲ پانه) ب :

تمت‌تمام‌شد، دیوان‌افریدی،خاتمه‌شدبتاریخ‌ماه‌شعبان المعظم سنه ۱۲۳۱هجری بخط خادم احقرالعباد سید کلام الدین قادری پیرعاشق گه‌لقب ازقاسم‌علی‌خان افریدی یافت وتصنیف دیوان مسمی دیوان افریدی نیزبه‌خان موصوف بود ، ومهارت درچند زبان می‌داشت وبلکه‌چند دیوان به‌زبان فارسی و هندی و چند ملفوظات انگریزی و کشمیری و نیز ترکی تصنیف می نمود وعلامهٔ عصر واهل دول (اهل‌دل) بود، واین احقرنیز ازسلسله ملازمان اوملازم بود، اتمام یافت .

پرله‌پسی‌لمبر ٤۲۳ دپانو شمیر۱۰۱/ $\frac{۱}{٤}$ ۸ په $\frac{۱}{۲}$ ٥ انچو کښی دغه‌نسخه د۱۸پیږی‌ـ په وروستیو وختو کښی لیکلی شوی‌ده : داکبر دشعری اثر څخه عبارت‌دی چه‌دغه شان شروع کیږی : ( جی‌دار مستتر)

چه‌وپردیس ته‌دعدم له‌ښکوپه‌کور راغل
په خوښه راغل گه حضور دچاپه‌زوررراغل
په‌ارادت کښی‌ئی خواستلی‌دی بمهنه‌ئی شه‌ده
لکه آفتاب چه‌له پردې دسپینو نوررراغل
په عاقبت دمین نه پوهیدی زده دی نه‌وو
لکه‌پتنگ هسی پرسرو لنبو داور راغلی

ددې‌شاعر په‌باب او همدا رنگه دهغه دژوند دتاریخ اونهټی په هکله څه معلو مات نشته ، د دغی نسخی اشعار هم په ډیره بی‌احتیاطی اوخلاف اصول لیکلی‌شویدی ،ځینی اشعار دصفحو په‌پای کی معکوساً لیکل شویدی او نوربیا پرله پسی اویائی‌په څنډو کښی لیکلی‌شوی ، اوپه‌دی ډول دنسخی لیکونکی‌دصفحی

ټول‌هغه ځایونه چه‌دلیکلو وړوٴ، په‌لیکو ډك کړیدی : دانسخه شپاڅه چه‌دشاعر خپله مسوده وی، محتویات په‌لاندی ډول دی :

هغه‌غزلی چه‌دالفبا دتورو په‌ترتیب نه‌دی ټولی شوی دالف د ،آ ، پانې څخه تر ۳۵ پو ری د ا م ام قصه ( حکا یت ) د ب ۳۵ پانې - ۵۹

دوه شعره دخدای (ج) دحمدپه‌باب دالف۶۰پانې۶۶

د خاوند تعالی عربی نومونه چه هر یو دیوې ځلور یزی (رباعی) په‌ترځ کښی یاد اوشرحه کړی شوی‌دی .

الف۶۶ پانې- ۷۳غزلی‌دالف۷۳-۹۲مذهبی‌اشعارله ۹۳- ۱۰۱

پر له پسی لمبر ۴۲۳۳ د پا نو شمیر ۴۳ - ۵ انچو په پنځه‌نیمو انچو کی دهر مخ دکرښو شمیر له۱۳ تر۱۴ کرښو پورې، دهری کرښی اوزدوالی دوه‌نیم انچه .

دانسخه په.... پیړی‌ کښی لیکلی‌شویده . (چې‌دارمستتر )

قصیده بر ده

دحضرت رسول اکرم (ص) دنعت په‌باب یوه قصیده ده‌چه دعبد القادر له‌خوا ترجمه کړی شویده .

بل له‌دی امله چه دده دغه غم ځپلی زړه آرام شی د شیخ سعدی د ګلستان په نظم او ترجمه ئی لاس پو ری کړیدی عبدالقادرخان (لکه چه دبرطانیې دموزیم دفهرست په کتاب کښی ذکر شویدی ) دګلستان خپله پښتو ترجمه ئی ګلدسته نوموړی کړلی اودموزیم په فهرست کښی تر۴۵۰۴ لمبر لاندې ۱۲۹ پانې ۹½ په۵½ انچو کی دهرمخ سطرو نه ۱۴ او دهرسطر طول ۳½ انچه تاریخ ئی ۱۲۷۱ هجری =۱۸۵۵ع‌ضبط شویدی د (میجرراورټی) په‌ذریعه‌وړل‌شویده .

ګلدسته دسعدی‌د ګلستان‌پښتو ترجمه پدې ډول شروع کېږی :

«منت‌دی خدای لره چه غالب اولوی‌دی اوعبادت ئی سبب دنزدیکت‌دی اوپه‌شکر دده کښی‌زیاتوالی دنعمت‌دی ، هر نفس چه‌ښکته‌ځی مددور کوونکی‌دحیات‌دی‌اوهر کله‌چه پورته راځی فرحت‌رسوونکی دذات‌دی ،پس‌په‌هر نفس کښی دوه نعمته موجود دی اوپه‌هر نعمت‌ئی شکر واجب‌دی »

د ګلستان ددیباچې له ترجمی څخه وروسته عبدالقادرخان خپله مقدمه‌ځای کړی اوپه هغی کښی دخپل بخت د انقلاب نه‌شکوه څرګنده کړی او په‌خورا دردنا که‌لهجه‌د۱۱۲۴هجری کال خپله تنهائی اوبدحالی بیان کړی داهغه مرحله ده چه داشرف له‌مرګه‌وروسته عبدالقادرخان دخپل‌وراره افضل خان په‌امر تبعیدشوی اود۶۰ کلو په‌عمرجلای وطن او په پېښور کی یوالحی اوسېده دده‌اثر ګلدسته‌چاپ شوی نه‌ده مګرلومړی باب ئی‌په ګلشن روه کی (۱۵۱-۱۸۶ مخونو) کی موجود دی ددې نسخې مستنسخ سید عظیم نومېږی او په آخر کښی لیکلیدی تمت: ثناده‌خدای‌لره‌چه دا کتاب‌دعبدالقادرخان د خوشحال‌خان خټك زوی په‌سعی دقلم‌خام‌رقم ددې بنده سراپا سقیم سید عظیم سره په‌سنه‌دولس‌سوه اویا کښی چه‌شمېراوس‌پنځ ویشتم درمضان دعبارت دی، اتمام‌واختتام‌ئی بیاموند»

پرله‌پسی‌لمبر۱۱۸/۲۸۲۷پانې ½ په ۱۱½ ۷ انچو کښی دهرمخ‌سطرونه ۱۵دهری کرښی طول ¼۵ انچه نېټه ۱۸۷۲ع (هوکس)

د ګلدستی دکتاب بله‌نسخه‌ده چه دغلام جیلانی پېښوری له‌خوا په‌ښکلی‌خط لیکل شویده ،ددې نسخې متن له پخوانیو نسخی‌سره څه‌لږشان تفاوت‌لری .

تمت‌تمام‌شد په‌تاریخ‌داتم دنومبر ۲۸۸۲ع په دستخط دغلام جیلانی‌پېښوری .

پرله‌پسی ګڼه۲۰۲/۴۵۰۳پانې ۱۸ انچه‌په ½۵ انچو کی دهرمخ کرښی ۱۱،دهری کرښی طول ½۳انچه په‌ښکلی‌خط لیکل‌شویده دتجلید نېټه ۱۲۱۷ه= ۱۸۰۳ع(میجر را ورټی)

یوسف‌زلیخا دجامی‌لخوادحضرت‌یوسف‌زلیخافارسی‌قصه‌ده‌چه عبدالقادرخان‌خټك‌په‌پښتو نظم‌ترجمه کړی اوداسی‌شروع کېږی .

عنایت ربه پـه ما کـړه  دامید غنچـه مـی وا کـړه
په خندا کی بـاغ زمـا کړه  معطر دمـاغ ز مـا کـړه
شنا سا می په نعمت کړه  ماګویا په خپل صفت کړه
صفـائی دضمیر را کـړه  ضمیر مـا له منیر راکړه

دا اثر ډېر مشهور اوعام پسندی ، اوپه زیاته اندازه لیتو ګرافی‌شویدی، ددغه‌اثرسره څه انتخابی برخی ددورنډ(کرستو میتی) په۱۷۴-۲۸۲مخو کی‌چاپ‌شوی‌دی دغه‌نسخه‌داورنګ زیب په‌یوه مدحه‌چه دهغه دپادشاهی‌ په وخت کښی ترجمه شوی وه پای‌ته رسېدلیده، نېټه‌ئی (۱۱۱۲ه - ۱۷۰۰ع) ده همدغه ډول دع - ق ۸ -ك دابجد دتورو‌په‌ذریعه بیان‌شویده دنسخی پای :

شب او روز په عبادت دی  که ئی نوم د سلطنت دی
حق توفیق دعدل ور کړ  په عـالم ئی داد ګر کړ
تل ئی مـل اوسه نصرت  او رنګ زیب له رحمت
سن دهجر عین و قـاف و  اته کم د پاس کـاف وه
چه تمام شـه دا کـتاب  پـه پښتو شـه انـتخاب

دانسخه‌په کشمیر کی‌دملاولی محمدله‌خوا دمولادادخان دپاره لیکل شوی‌ده اودشوال‌په‌څلورم ۱۲۱۷ه کال پای‌ته رسېدلی ده تمت نسخه .

تمام شد کتاب یوسف زلیخا حسب الفرمایش عالیجاه رفیع جایگاه مولادادخان درخطه کشمیرجنت نظیر، دلپذیر بدستخط ملاولی محمد بتاریخ چهارم شوال سنه یکهزارو دو صدو هفده قلمی گردید پرله پسی لمبر٤٢٣٩ پانې ۱۵۱/ ۸ په ۵ انچه دهری صفحی دکرښو شمیر ۱٦، دهر مخ هری کرښی اوزد والی دری نیم انچه لکه چه شرګندښی دانسخه په ۱۸ پیړۍ کی لیکل شویده . (دارمستتر)

یوسف زلیخا: بله نسخه چه لومړۍ پاڼه ئی نشته، اود پخوانۍ نسخې دالف د۱۹۰ پانې په واسطه (دپښورچاپ ۱۸۷۰ ع کال دمطبوع نسخی ۲۱۱ مخ) بایته رسېدلیده .

پرله پسې لمبر ۲۵۰۲/ پانې ۷۰/ اته نیم په ۱۱ انچو کی په احتیاط لیکل شویده ، نپټه ئی ۱۹ پیړۍ د هرمخ دکرښو شمیر ۱۷/ دهری کرښی اوزدوالی څلورنیم انچه : دارمستتر)

آدم او درخانۍ

یوه خوزه قصه ده چه د صدر خان خټك له خوا په پښتو نظم شویده اودغه شان شروع کېږی :

ربه زړه ځما چمن کړه د تایاد پکښی ګلشن کړه
استخوان سی پنبه زار کړه پکښی اوردعشق انوار کړه
هغه اور په ما لنبه کړه دزړه و ینی مې پیاله کړه

ددغه اثر لیکونکی صدرخان دخوشحال خان خټك زوی (۲۲ لمبر کتاب دی وکوت شی) اودعبدالقادر خټك وروردی ، داقصه دیوسف زو اوسواتیانو ترمنځ زیات شهرت لری میجر راورټی (۱) لیکی چه دغه رومان فخرالدین صاحب زاده لیکلی او یوه بله نسخه ئی په نظم داکبرشاه پښتوری په ذریعه لیکل شوی او په (۱۸۸۳ع) کال په ډیلی کی چاپ شویده او همدارنګه یوه بله نسخه ئی چه دهشنغر دتنګی دمولوی احمد لخوا ویلی شویده په (۱۸۷۲ع) پښور کی لیتوګرافی شویده ، مولوی احمد په خپله مقدمه کی وائی چه دغه قصه حقیقت لری اوهمدارنګه واقع شویده درخانی دبزدرې کلی په کښته خوا دسوات دعلاقې دیوه شتمن اومخور سړی لوروه او آدم خان د بازدری کلی په بره خوا کی دیوه بل کلی ځلمی مشر و ، اولکه چه ددغی واقعی ستری پښتی هم په همدغه ځای کښی پښتی شویدی ، مګر دغه قصه بالاخر له اکوړی سره نژدی دکابل دسیند په غاړه په مصری نومی باندې کی پایته رسېدلیده د دغوعاشقانو آدېره اوقبرونه اوس هم دتولندی دکلی سره څرمه لیدل کېږی چه دمصری باندې (۲) څخه لری نه ګڼل کېږی (۳)

همداډول صدرخان دیوه دیوان خاوند ، اود (دلی) قصه اودنظامی خسروشرین قصی هم ده په پښتورا اړولیدی دنوموړی دخسروشرین قصه پدې بیتو تمامېږی :

زاغ حاسد زغن جاهل دی بلبل شوك، درد مند عاقل دی
سن قیبغا بلبلان لاړه جیم ، عمر نسن ځما دی
دا کتاب دعاشقان چه ما نظم کړ یاران

قیبغا، دابجد په حساب ۱۱۷ه دمنظومې تاریخ ، اوجیم دصدرخان عمر ۵۳ کال دی

ددلی اوشهرۍ قصه: دبرتانیې په موزیم کی تر ۲۸۲۵ لمبر لاندې ضبط شویده شپږی دحیات خان پښتانه لور او شاعر ئی صدرخان خټك دی چه هسی شروع کېږی :

بس له حمده له درووده، التحیاته دماضی مینوحال دی غوږ کړه ماته
داقصه چه زه وایم بی نظیره
اور بد لیده دامالە یوه پیره
یو کهنه ډیر په سال پیر کلان وی
ګرزېدلی په هرلوری په جهان وی
ډېرعاقل ،روشن ضمیر دسخن ګنج وُ
ډېرفاضل سخن امیروُ معدن ګنج وُ

☆ ☆ ☆

دقصی خاتمه داډول ده :

شپه رنګ تم شوه دشهۍ رادی اشکال
دشهۍ ، دلی قصه تمامه لاله
شپه چه تم شه د شهی ، د لی کتاب
ځما زړه پسی ، لړزان وُ ډېر خراب.

علم خانه دانش : دبرتانیې دموزیم دفهرست له مخی تر ٤٥٠٦ لمبر لاندې ضبطه شویده دا قصه دابو الفضل له (عیار دانش) څخه افضل خان داشرف خان خټك زوی په پښتو ترجمه کړیده او پدې ډول شروع کېږی :

داآغاز دی په نامه د هغه خدای
چه بی ځایه دی، بی مثل رهنمای

ځینو ددې نسخی دپښتو نظم وخوشحال خان خټك ته کاندې، اودا سهو ده، ځکه: «دورن» لدې نسخی څخه انتخابات کړیدی.

نیرنګ عشق : د برتانیې دموزیم په فهرست کښی تر ۲۸۰٤ لمبر لاندی قید ، اودشاهد ، اوعزیز قصه ده چه دمحمد اکرم په غنیمت متخلص له خوا په ۱۰۹٦ هجری کال په پارسی نظم شوی اوپه پښتو ترجمه شویده - داروما ن پدې ډول شروع کېږی :

---

۱- دراورټی د پښتو ګرامر مقدمه ۳۲۰ مخ .

۲- همدارنګه دی (په دغه) باره کی دکنګورم کابل پښتون ،لندن نومی کتاب (۲٤٤ مخ ) و کتل شی .

۳- واقعاً دآدم خان اودرخانۍ قصه یوه واقعی اوعشقی پېښه ده چه پښتانه ئی تراوسه دناستی ولاړی ځایونه یادوی ، اوناری ئی په ټولنو کی زغوی .

پس له حمده ، له درووده وائی دا
دا په درد محبت و لا پر گدا
چه په وخت داورنگ زیب انش پاره
له مجمره د پنجاب شو له بنکاره
زمانی په پیر پوکل سره بل اور کړ
بیائی پوري دعزیز دزړه په کور کړ
دا قصه د اور حصه ځما صاحبه
د کنجامحمدا کرم کړه په پارسی ژبه

☆ ☆ ☆

دشاه گدا قصه : دهلالی هروی له پارسی رومان څخه په پښتو ترجمه شویده چه شروع ئی داده :

دا آغاز می په نامه د هغه خدای دی
چه نوم گره کشا دشاه گدای دی
دالله په نوم ، لومړه هغه لایق دی
چه خالق په یوه «کن» دخلایق دی
دلحلت د غه نامه پر هغه رب کا
چه یوالحی پادشاهی دمخلوقات کا
نه ئی مثل په جهان کی ، نه مثال شته
نه ئی شوك په کار وبار کی سم وسیال شته

ددی افسانی انجام پدې ډول شو یدی :

په حرمت دپاك رسو ل دده حبیب
په وصال می مشرف کړه د حبیب
دچار یارو په حرمت دی وه اې ربه
د اصحابه په عز ت دی وه اې ربه
دحسن، حسین په روی د ی وه اې ربه
د عاشقو په‌های ، هوی دی وه اې ربه

☆ ☆ ☆

گلستان : دبر تانیې دمو زیم دفهرست تر ۴۵۰۵ لمبر لاندې ضبط شوی اودامیرمحمد انصاری ترجمه‌ده چه پدې ډول شروع کېږی :

« همه واړه ثنااوصفت اوکل احسان اومنت هغه لوی قادر څښتن تعالی لره چه طاعت ئی سبب دقربت دی، او دده په شکر کښی زیاتی دنعمت، هره یوه سا چه ښکته درومی اوزدونی دحیات ده - اوهرکله چه پورته را شی خوشحالونی دذات یعنی دلحان ده - پس په‌هره یوه سا کښی دوه نعمتو نه موجود، دی، اوپه هریوه نعمت ئی شکر واجب »

ددې اثر دمترجم په باره کې موږ هیڅ ډول معلومات نه لرو، اونه ده دخیل لحان معرفی کړیده خومستر راورټی دونه وائی چه : دا اثر خورا نادر اوناپیدا دی ، اویوه بله نسخه ئی هم شته ددې کتاب مترجم امیرمحمد دمیرمحمدانصاری زوی دی دکلکتی په دارالاماره کښی سنه ۱۲۲۷ هجر ی .

دسیف الملوك قصه: تر ۳۹۸ لمبر لاندې په ۱۸۰۰ عیسوی کال لیکلی شویده اوله پارسی څخه دغلام محمد نومی په ذریعه پښتو را اړولی شویده - دا ډول شروع کېږی :

نقل هسی کاو ړښلی نا قلان
دسلطان محمود په عهد اوپه زمان
چه سلطان محمود غازی په مسند کښناست
اوجاری شه دده ښه عدل وفزمان
ښه مجلس ئی اراسته کړ دخوښی
پخدمت ورته ولاړ وو و زیران
دهر لوري، دهرملك ئی کړې خبرې
چا د عدل صفت کړ، چادخوبان

☆ ☆ ☆

دبهرام گور قصه : دبر تانیې دموزیم دفهرست تر ۴۴۹۹ لمبر لاندی - پانې ۱۳/۱۱۲ په ۸ انچو کی دسطرو شمېر ۱۸ دهر سطر طول ۵ ۱/۲ انچه داستناخ نهټه ۱۲۷۱ هجری د ۱۸۵۴ع مطابق داقصه دفیاض شاعر اثردی - شعرئی خورا ابتدائی بربښی، مگر وائی چه دا اثر : (میجرراورټی) څوځلی چاپ شوی اوپادری هیوز هم داقصه په کلید افغانی کی خپره کړیده، مستنسخ ئی سراج الدین ملتانی دی .

عذرا، اووامق : دبر تانیې د مو زیم دفهرست په قرار تر ۴۵۰۰ لمبر لاندی قید، پانې ۹/۹۳ په ۱۶ ۱/۲ انچو، دکربنو شمېر ۱۳ - دهری کربنی اوزدوالی ۱ ۱/۲ انچه ده - دااثردحاجی محمد حسین شیرازی له پارسی نسخی څخه معین الدین هشتغزی په پښتو نظم ترجمه کړیدی - شعرئی خوراپوخ دی اوپدې ډول شروع کېږی :

دا آغاز می په نامه د پاك خالق دی
چه په عشق ئی دعذرا سوی وامق دی
شنې مانې ئی په هوا کړې الوښزاندې
یو دبل په سرو لاړې، لاندې باندې
چه قدرت ئی دمخلو ق په بهبود راغی
له پر دې دعدم څخه وجود ، راغی

دې ترجمې په ۱۲۵۶ هجری کی صورت موندلی اوداسی څرګندښزی چه نسخه هم دمولف په قلم استنساخ شویوی ، دا اثر پدې ډول پایته ر سېدلیدی :

دا کتاب چه په اتمام ورسېده
څما هسی له هجر ته ، یادېده

چه یوزر،دوه سوه،شپږ پنځوس صاحب
دهجرت کالو نه تهرو و بوالعجب

☆ ☆ ☆

غل اوقاضی : داقصه دبرتانیې دمو زیم دفهرست له مخی په ۲۸۲۷ لمبر قیداو دمولوی احمدتنگی هشنغری لخوا په پښتو نظم شویده، اوپدې ډول شروع کېږ ی :

راشه واوره دا قصه ده دقاضی اوغله دعوه ده
را ویا نو دی و یلی په کتاب کښې مالپدلی

مترجم شاعروائی چه دی دمسافر خیلو مخصو صا په ابراهیم خیلو پورې اړه لری، او دده د ترجمې تاریخ ۱۲۸۳ هجر ی ښودل شویدی، داقصه له پا رسی څخه په پښتو ترجه شویده :

دفتح خان برېځی قصه : د موزیم دفهرست په ٤۲۳۵ لمبر ضبط شویده، ناظم ئی ملانعمت الله دی ـ افسا نه پدې ډول شروع کېږ ی :

الهی بلبل دزړه خما گو یا کړې
مشغل می روزوشب په حمد، ثنا کړې
دوحدت په چمنگاه کښې می قریب کړی
ستا دفضل په گلشن می عندلیب کړې
توفیق را کړی هسی رنگ پخیله کوری
چه می ژبه هر زمان په ثنا ښو رې

نعمت الله دنو شهر او سېدونکی او دهغه عصر دلیکوا لو له ډلې څخه گڼل کیدی ده څوقصی اودینی منظومی ، رسالی هم جوړی کړیدی ـ دفرهاد، او شر ینی مثنوی ئی په ۱۳۰٤ هجری د۱۸۸۷عیسوی مطا بق جوړه کړیده اودفتح خان قندهاری قصه، چه پهلوان ئی پخیله فتح خان داسلم خان زوی او دقلا بست اوسیدونکی دی، په را بیا کلی بهغلی عاشق وو، پدې لړ کښې فتح خان له خیلو شپږو برېځوسپروسره داکبر باچا له لښکرو سره ډېرې جگړې و کړې خو په نتیجه کښې فتح خان ووژل شو، او دده معشوقې را بیا گلی هم دعاشق په مزار خیله ساور کړه، خورا مشهوره قصه ده .

ضروب الامثال : دموزیم په فهرست کی تر ۲۸۳۲ لمبر لاندی قید، ۷۲ پانې لری ، ۱۱ په $7\frac{1}{2}$ انچو کی دکر ښو شمېر ۱۵دی ـ دانسخه خورا ښکلی لیکل شویده تاریخ ئی فروری ۱۸۷۵ع

دی پادری هیوزوائی : ددې مجموعې ټولوونکی سید احمد دکوته دی او داسی شروع شویده : وزی ته چاووې چه څلور اوځلورځو کېږی؟ وې اته ډوډی .

ادې لپونی ږه ژ می باتینکړ غواړی .
ادې په سمه او کده ئی په سوات .

آس بردی اوسور پر مالی .

یادرې هیوز پدې نسخه پورې دغه یاد داشت ضمیمه کړیدی :

شپږسوه نه اویا دپښتوضرب المثلونه چه د مولوی سید احمد دیوسفزو دکوته کلی اجیرامام ټول کړیدی دالفبا په ترتیب لیکل شویدی، داسړی دکوته دمشهور ملازوی دی چه نوموړی عالم دسوات دآخوندیوله سختومخالفینوڅخه و (پادری هیوز دسوات آخوند ندی معلوم کړی ،چه مطلب ئی آخوند قاسم د فوائد الشریعه مولف دی که ستر آخوند مولانا عبد الغفور صاحب دسوات په آخوند صاحب معروف .)

برموقمیتدار یادداشتونه چه دبرتانیې دموزیم له فهرست څخه اقتباس شویدی پایته ورسېدل دامعلومات لکه چه مربوط آثارئی لندن ته وړل شوی، تراوسه دپښتو دادب په تاریخ کښې ندی لیکل شوی ،اودالومړی پلاده چه ددې گټورو ملی آثارو له وجوده څخه اطلاع حاصله کړه اودهغوی په باره کښې مومستند معلومات سره راغونډ کړی شو .

## د تېرې دورې د پښتو ادب څرنگوالی

مونږ تردې پخوا وایلی چه : ادب دخپل محیط اوچاپېر (هنداره) ده اولدې کبله چه ادب نظم وی که نثر دخپل اجتماعی سیاسی، اوجغرافیائی چاپېر اثراوښوونکی وی، نو برونېتر فرانسوی پوهاند یو گام پرمخ تللی اووائی: پخیله شاعر او لیکوال هم دخپل محیط زوی اودده ذهنیت ، خوی ، عادات هره کړه وړه هم دمحیط څخه منبع اخلی، پدې تعبیرسره هم ادب دخپل محیط هنداره او نما ینده دی ، او هم ئی دمحیط تر اغېزو لاندی خپل ملی تشکیل غوره کړیدی بلکه شاعران اولیکوال چه دادب جوړونکی دی هغوی پخیله هم دمحیط اثراوهم موثردی څکه دا دمحیط اثردی او اشیا ټول مملول به علت سره دی ، پدې لحاظ نودشاعر وینا هم پخیله دده اثر نه ده بلکه دهغو مواثراتو نتیجه د ه چه پخیله شا عر جو ړ کړیدی ، پدې وجه دمحیط حوادث ، ستری پېښی ، زمان اومکان په ادب او اشعارو کښې خپلی نښی او اغېزی څرگندوی ، اوشعرا مجبوردی چه دمحیط له کانووانو څخه دانفعال په توگه اثراواغېزی اقتباس کړی،لدې کبله غواړوچه ددې دورې په شاعری اوشاعری کښې دمحیطو تاثیراتو ته ځیرشو ، اوپرهغه ځیرنه وکړو :

نظم : هر کله چه ددې دورې ادب پالونکی پاچاهان ټول دخارجی اوداخلی پېښو،اوناوړو استعماری اغراضو په غلې کولو اوله مینځ څخه وړلو باندی مصروف دی ، اوغواړی دهغوخطراتو څخه وبونه ورکړی چه دلویو استعماری دولتو د سترو قواؤ لخوا دوی اوددوی هیوادو ته مخامخ شویدی نودادب ر وزلو ته ئی

فرصت نه لاره ، لدې کښله د لباری ادب مخصوصاً دپښتو ادب پخیله طبیعی سویه ځای پاته شویدی اولکه په تېره دوره کښی چه د هوتکو ، سدوزویا ترهغوی پخوا دمغلو ، تیموریانو دپارسی ژبی ادب پالنی دپښتو په شعر او شاعری باندې هم اغېزی کړی دي اودپښتو اشعارئی عروضی اوقانونی پډې ته رابنکلی ؤ خوشحال خان، رحمان بابا، حمید، عبدالقادرخان، کاظم خان شیدا اوداسی نورستر شاعران ئی پښتنی اواجتماعی نړۍ ته وروزل، خوپدې دوره کښی هغه عوامل اوموثرات په منځ کښی نشته .نو هیله دا کېده چه په دې دوره کښی باید دپښتو ادب له کلی سقوط سره مخامخ لیا خورا مخ په ضعف او کمزورۍ ولاړ شو ، مګر هرکله چه د محیط استعداد ،اودپښتوژبی اوغیو رو پښتنو فطری روح اومګورنی ذکاً په ځای ده نو به حقیقت کښی دپښتو ادب او شاعری بې لدې چه خپله بڼه له عروضی کیفیته څخه دملی لهجی و طرف ته راوګرځوي نورضروري ندی مینډلی ، هو! ، پدې دوره کښې ببرته دپښتو ادب خپل خط سیر له تقلیدی اشعارو څخه دملی اوفطری اشعارو خواته رابدل کړی دی اوسپرې بدلی، چاربیتی، غزلو ترقی و کړه ضمناً هرکله چه ټولنه ، دټولنو افراد، دوخت له پښو ، اوبرله پسی جګړو څخه متاثر شویدی نو حماسی او رزمی اشعارو نظر دریمی دورې ته پدې څلورمه دوره کښی پرمخ تك وکاؤ یعنی ملی سندرو حماسی اورزمی چاربیتو، غزلو ،سپرو بدلو اوتاریخی قصېدودملی روح په مطابق شاعرانه تمکی والی، نزاکتونه ، اوډېروالی غوره کړ ، یعنی که په دوهمه اودریمه دوره کښی دپښتو ادب اوشاعری میارو ښان ، درویزه ، دولت ارزانی ، خوشحال خان اورحمان بابا لرل پدې دوره کښې هم توکل ، میرا ، سید کمال ، احمد ګل ، محمد دین ، نعمت الله ، نوروز ، احمدجان ، رضوانی اوداسی نور شعر و یونکی اونثر لیکونکی پیدا کړل چه دپښتنو احساسات ئی ژو ندی وساتی بلکه دخپل نزدپوالی له کبله چه له عامی طبقی سره ئی درلودپدې دوره کښی شعر اوشاعری دپښتنو په روح کښی لاژوری اغېزی وکړی اودپښتنو د بهادری اوتورکښی پخوانی روح ئی ببرته ژوندی کړ اوپه کار بوخته کړه . لدې کبله ؤ ، چه پدې دوره کښی پښتون ټبر دخپلو ملی اورزمی حماسی ادب په تحریك اومرسته ډېر سخت میدانونه، اودسرښندلو ډګرونه فتح کړل ، د ښمنان ئی په څټ وزغلول ،دهیواد سترې اوموثره ټوټه ئی په وج زوراو اودتوری په برکت سره وساتله سربېره پردې هغه دادب بله ډېوه چه روښان، درویزه، خوشحال خان اورحمان بابا لګولی وه هغه ئی شم دخپلو دینی اوپښتنی احساساتو ترسیوری لاندې بله (افروخته) اوروښانه ولرله ، پدې اعتبار سره موږ ویلایشو چه دپښتو ادب په څلورمه دوره کښی لکه دپارسی ادب چه سقوط وکی ،برخلاف پرمخ تك اوپراخوالی مینډلی دی ، داچه پدغه دوره کښی منظم شعری دیوانونه لږدی وجه داده چه دپښتو ادب بڼه بدله کړی او دعروضو دانحصار له چمبره څخه راوتلی عمومیت ئی غوره کړی توده ئی منوره ، په شعر پوه او وینه ساتلیده ، اوهمدغه اصلی غایه ده چه د اروپا پوهانو ، سترو لیکوالو ، اوشاعرانو ، ددې غایی دعملی کولو لپاره پخپلوملتواوهیوادو کښی ډېری ستونځی اوسختی ورځی پخان منلی دی ترهغو چه دا نیتی ، پاسکال خپل ملی ادب دعوامو په ژبه کښی ځای کړې، اوهوګو ، وا لیتر ، لامارتین ، الفردو موسه پخوانی ادبی تقالید مغلوب کړی او خپل ملت ته ئی رومانتیك ادب وړ اندی کړیدی ، پښتنو پوهانو ، او شاعرانو هغه غایه په ضمنی ډول په محیط کښی تطبیق کړه اوخپل اخلاف ئی مجبور وګرزول چه دې نقطی ته ژرملتفت شی اوخپل ملی ادب په نوی عصر وروزی ، پراختیا ورکړی لغات ئی راغونډ علمې کېښلتیائی بشپړکا ، دایرة المعارف پخپله، په پښتو کی ولیکی په ټولنه کښی ملی موسسی ، دزدکړی کورسونه ، اوبالاخر په کابل ، قندهار ، او پېښور کی اکادمی کانی ورته جوړې کړی ترهغوچه ملی ژبه پښتو زرتر زره دډېرو آثارو کتابو، او کتابخانو دلرلو په مرسته سره دنړۍ دنورو سترو اوپراخو ،علمی اوادبی ژبو په صف کښی ودرېږی ،دادی ددې دوری ومهمو پښتو منظو مو آثارو ته چه دموضوع په لحاظ په دری ډلی وېشل کېږی (قصصی یاروائی عشقی مذهبی) یوه اشاره کول غواړو :

الف روائی :

۱- داحمد ګل دنیمبولاقصه ،۲- د کوهوال قصه، ۳- دنعمت الله لیلی مجنون ٤- دنیمبو لاقصه ٥- دفتح خان افسانه ، ٦- دموسی اوګلمکی قصه ، ۷- دحاتم طائی ، جنګنامه ، ۷- شهنامه ۹- دالف لیلی قصه ۱۰- دملا احمدخان دشهزاده بهرام ،ممتاز یاورقه ګلشاه ، امیر حمزه ، شیرویه یوسف ز لیخا افسانی، داحمد آخوند خپل دامیر حمزه اوداسی نوری قصی او روائی افسانی:

ب عشقی آثار :

دسردار مهردل خان دیوان ، دمیرزاحنان دیوان دسید کمال دیوان ، دنوروز بهار نوروزی دشیرمحمد دیوان د نظر محمد کاکړ دیوان دمحمدامان دیوان ، داحمد ګل دیوان ، د عبدالله دیوان درضوانی دیوان دشمس الفلك دیوان ، داحمددین دیوان ، داحمد کلاچی دیوان اوداسی نوردیوانونه ...

ج مذهبی اوتاریخی آثار:

دعبدالمجید سیرت النبوی دجیب الله منهاج العابدین درسول داددرالبیان، ددوست محمد بحرالعلوم ددوست محمد اخلاق احدی دغلام محمد داسلام مدو جزر ، دعبدالباقی تهذیب الواجبات

داحمددپچکیر ،انیس الواعظین، دولی محمددسوات صاحب مناقب دفیض محمدروضة المجاهدین

نثر : ددې دوری دنثر لیکونکو په مخ کښی لا هغه روانی مذهبی، تاریخی، اوتعلیمی موضوعگانی پرتی دی، ددې دورې دنثر سبك که څه هم دموضوع په لحاظ کوم ژیات فرق ندی کړی مگر دلفظ په وجه په نثر کښی څرگند تغیر پیښ شویدی د ۱٤ هپیړۍ له شروع څخه دمنشی احمدجان سبك میدان ته راغی، خو هرکله چه غوره اودعصری ممیزاتو نمونه وه په ټوله پښتو نخوا کښی ئی خورا ډیر منبت پیدا کړ، اوتر اوسه پوری لا دمنشی احمدجان دنثر پیروی پښتنولیکوالو نده هیره کړی لاندی به یوه بله نمونه دده له نثر څخه ولیکو، ترڅوچه دپښتو عصری سبك څنه وپژندل شی اوهغه داده: «یوسړی زرگرله ، لاړشو اوورته ئی وویل چه مانه کنډه راکړه، چه زه پری وړې وړې توکرې دزرو وتلم هغه زرگرورته ویل، چه غلبیل ځما بل چاوړی دی، هغه سړی ورته وویل چه ته څه وائی، اوزه څه وایم زرگر وویل چه جاروم په دکان کښ نشته، هغه سړی ورته وویل چه مانه معلوم یی چه کوټ نه یی خبره اوړې، اوسره ددې زله تانه یوځیز غواړم ، اوته راته بل څیز یادوی، زرگرووېل، چه څنه اورم چه ته کنډه غواړی، مگروینم چه ستا لاس ړچپزی، اودازربه ،درنه پریوزی ، نوبیا به وایی چه جارو راوړه، چه دزرو پوتی پرراتول کړم ، نوبیا به غلبیل غواړی دچانولو ،دپاره نوماځکه دجارو، او دغلبیل عذر وکړ چه تالایق نه وینم چه دغه کارو کری ، نوخواه مخواه به دی دواړو ته حاجت پرېوزی ، اودادواړه خونشته» له گنج پښتو څخه»

ددې دورې یومهم افتخاردادی چه دامیر شیرعلیخان له زمانی راپدیخوا دپښتو ژبی ښوونی ته هم توجه شویده، ځکه دامیر شیرعلیخان په امر تعلیمنامی ، اوعسکری قواعد، اوقوماندی په پښتو ترتیب شوی اوژبی ته ژوندی ر اوعسکری درجه ورکړله شوه، اوبیا دامیرحبیب الله خان په زمانه کښی پښتو په ښونځو کښی داخله شوه او کتابونه پکښی ولیکل شول، په صوبۀ سرحد کښی هم داحرکت بی اغیزی پاته نشو اوله ۱۳ پیړۍ راپدیخواهم پښتو ته دروزنی توجه لیدله کیږی ځکه چه پدغه مهال کښی میر احمد شاه رضوانی دپښتو دزدکړی لپاره (وافیه) نومی د پښتو پوگرامر ولیکه، اوقاضی خیرالله د(خیراللغات) په کتاب کښی د پښتو لغات راغونډ کړل .

پښتومرکه : ددغی دورې له ستروکاروڅخه د پښتو مرکی جوړیدل دی ځکه گمان کیږی چه دامرکه به دپښتو لومړۍ اکاډمی وی چه په رسمی ډول د پښتنو په مرکز کابل کښی جوړه شویده په پښتو مرکه کښی د هرې قبیلی نماینده گډون درلود ، پدې مرکه کښی دپښتو لغات را ټولول اودنویو لغاتو وضع کول ،اودپښتو دصرف اونحو لیکلو ته (خو پخوانی بنسټ ) ته پوره توجه اوپام لرنه شو یده - پدې مرکه کښی پوگرامر ( پښتو پښویه ) بل د لغاتو کتاب اوبل « دیوانځی ر پښتو » یوه برخه جوړه شوی اوښه ښه کتابونه پکښی لیکل شویدی . یوبل مهم امتیاز ددې دورې دادی چه پښتو په ورځنی ر ( اوپخو ) اومیاشتنیو جرایدو کښی هم ځای پیدا کړی ، ورځ په ورځ ئی د خپرونو کړی ر ارته شو یده ، د سراج الاخبار ، طلوع افغان ، اتحاد مشرقی زړی پا نهی ددې خبرې تائید کوی - دنوموړی دورې دنثر ځینی کتابونه دادی :

۱ ــ دمراد علی صاحبزاده تفسیریسیر ( پښتو )
۲ ــ ددوست محمد پښتو تفسیر بدرالمنیر .
۳ ــ د غلام محمد د مدو جزر مقدمه .
٤ ــ دمنشی احمدجان دافغانستان تاریخ .
٥ ــ تاریخ غزنوی .
٦ ــ داحمدجان منشی گنج پښتو .
۷ ــ دمنشی احمد جان هغه دهغه .
۸ ــ هم دمنشی احمدجان دقصه خوانی ر گپ .
۹ ــ دمیر احمد شاه رضوانی بهار ستان اوشکرستان .
۱۰ ــ دپښتو مرکې یوانځی ر پښتو .
۱۱ ــ د نعمان الدین ظفرالنساء .
۱۲ ــ دعبدالمجید جمال افغانی .
۱۳ ــ دملا غلام سوال او ځواب .
۱٤ ــ دسید محمد عمر گلشن افغانی .
۱٥ ــ دمحمد یوسف توبة النصوح .
۱٦ ــ دسید احمد پښتو متلونه .
۱۷ ــ دصالح محمد د پښتولومړی ، دوم، دریم تعلیمی آثار.
۱۸ ــ داسی نور کتابونه چه موضوع خو ئی پښتنو ده اما په پارسو، اردواوعربی ژبو لیکل شویدی لکه دسلطان محمد تاریخ سلطانی - دسید جمال الدین تتمة البیان نی تاریخ الافغان دشیرمحمد گندپور خور شید جهان ، دحیاة خان د حیاة افغانی د امیر عبدالرحمن خان تاج التواریخ ، د فیض محمد سراج التواریخ ... و غیره .

اوسنی ر ( معاصره ) دوره چه د ۲۳٥۰ هجری قمری د ۱۹۳۱ عیسوی را پدیخوا شروع شویده:

( اوله دوره هم ) دپنځمی دورې ، یعنی دمحمد زو ددورې یوه برخه ده اما خبره داده چه پدې اخر ینو کلو کښی دپښتو دژوند په ساحه کښی یوبی ساری او بی سابقی اد بی او لسانی نهضت لیدل کیږی اوپدې لږه موده کښی د پښتو د ترقی او پرمخ تگ او روزنی ، څېړنی لپاره دومره کار شوی چه

په‌رښتيا سره پخواتردې په‌دوو پېړيو کښې هم نـه دی شوی، البته دشرق‌اوغرب علمی او په هرځه کښې نـوی تر قـيږ او نهضتونو به د دښتو دژبی اوادب دپرمخ تك په‌ساحه کښې‌غوره اوستری اغيزی هم کړی‌وی او کوی به‌ئی‌خوهغه پښتانه‌پاچاهان اوستر رجال، دښتو ليکوال، شاعران، چه دښتودنوی عصری نهضت سترحاميان اوخپروونکی، ليکونکی دی هم لومړی‌ـ پلا يادونی وړدی، لاندی پدغه موضوع يوه لنډه تبصره او څېړنه کول غواړو :

لومړی‌ء: اعليحضرت محمدنادرشاه شهيد : دنورو اجتماعی چارو په‌لړ کښې دښتوژبی ادب اوروزنی ته هم موثره پام لرنه وکړه اودده په‌دوره کښې پښتو په‌تعليمی پروګرام کی داخله شوه، او هم د مطبوعاتو په ور لځنيو، او ميا شتنيو اخبارو مجلو کښې دښتو برخه ليکل اوخپرول په زيا ته پيمانه ومنله شوه .

دوم : هغه‌وخت‌چه‌اعليحضرت محمدظاهرشاه (خلدالله ملکه) دافغانستان دپاچاهی‌ـ واګی په لاس کی ونيو دې ځلمی‌تولواك دخپل جلوس له‌اولو وختو څخه دخپل‌نامدار پلار (اعليحضرت محمد نادرشاه) پرقدم روان اودهغه د نقشوپه‌بشپړ کولوباندې مصروف‌دی ـ پدې دوره کښې دوطن ټولی اجتماعی او عمرانی چاری پرمخ روانی دی اوپه خورا بېړه‌دمقصد لورته قدمونـه اخستل کېږی .

دښتوپالنه اوروزنه : دنورو حياتی برمختيا ؤ په لړ کی دښتو ژبی دروزنی په‌لاره کښې هم نـوی نهضت روان دی‌ء، پدې عصر کښې دښتو هنګامه توده اوپه لومړی‌ء مرحله کـی پښتو په مکتبو کښې په زياته اندازه داخله اوتعليمی کتا بونه ئی وليکل شول ، همداډول‌په سالنامو ، ورځنيو اخبـارو کښې دښتو علمی، اجتماعی، تعليمی، تاريخی‌اوادبی مضامين او مقالو په ليکلو ، خپرولو هاند وکړی شو، له‌بلې خوا ډېـر پښتانه پوهان، ليکوال، شاعران دذوق خاوندان حاضر شول چه دښتو په‌باره کښې په ليکلو، خپرو لو، اوادبی، څېړنـو لاس پوری کړی، پدې ډول دپراخو کـتابونوليکل، داشعار وويل ، دنثر، لغاتو، علمی، ادبی اوګرامری‌اثارو دليکلو سلسله شروع شوه شل کاله پخوا په‌کابل کښې دانجمن ادبی لخوا، او په قندهـار کښې ديوې پښتو ټولنی لخوا، يوه‌يوه بشپړه پښتو مجله پـه خپريدو بوختې شوې په ۱۳۱٤ شمسی کال د قندهار دښتو انجمن رئيس اوغړی‌کابل‌ته راغلو، اودلته دکابل له ادبی انجمن سره يوځای اويوه عصری اکاډمی ئی جوړه کړه ، دې ټولنې «دافغان رايل اکاډمی» ترعنوان لاندې په ګډه دښتو ژ بی پـه شاوخوا کښې فوق‌العاده څېړنی، ليکنی، ګټوری خپر و نـی، شـروع کړې، نو لومړی‌ـ پلا ئی يوه سلسله دښتو تـدر يسی کـتابونه هم وليکل، بيادښتولو ستځی په مرکـز او و لايا تو کښې ددولتی مامورينو اوتجارتی متصديانو د رو زلـو لپـاره جوړ اومعلمين ئی دښتو ټولنی لخوا وټاکل شول ، پدې لړکی دښتو دتدريساتو يومرکـز په مطبوعاتو، اوبل په‌معارف کښې وپرانستل شو ، اودعصری ښوونکو (معلمينو ) درو زلو لپاره دوه ځانګری مستعجله دارالمعلمينونه په کابل او قندهار کښې جوړشول،اودښتودزده کړې دوره په شپږو سمسترونو با ندې ووېشله شوه دې چاروښې ښې نتيجې ور کړې ، اوبيـا دښتو دمعلمينو دمقررولوپه مرسته دښتو لوست دمعارف په تدر يسی پروګرام کی شامل اولومړی‌ـ پلا ټول تدريسی مضا مين هم په‌ښتو ژبه راوړل‌شول ـ څو کاله وروسته څه معقول‌تعد يلات په تعليم کښې منظور شول، پدې ډول ښتو پرمخ و لاړه، لکه چه لويانو اوهلکانو په زغرده په‌ښتو ژبه دليك او خبرو کولو استعداد پيداکړ، اوس دواړی ژبی‌ښتو، اوپارسو، دهرچا زده دی او دکابل رادیو، اوملی اخبارو نو يومېه خپرو نی لاپسی دواړی ژبی تقويه کوی هاند روان دی ...

لدې نيمګړيو معلوماتو څخه وروسته‌غواړو، ددې موجوده دورې يوه برخه چاپ شوی علمی او ادبی، تاريخی ، اجتمـاعی اثار اومولفات ذکر کړو ، کوم چه په پښتو ژبه ليکل شوی اوخپاره شويدی ـ دادی پدې کارپيل کړو :

الف : علمی‌ستر اثر : پښتو آريانا دائرةالمعارف ترټولو لومړی موثراوعلمی اثردی، چه‌پدې‌دوره کښې دښتنی حکومت په لـګښت (مصرف) ديوې ثقافی ټولنی لخوا ( دښتو آريانا دائرةالمعارف ټولنه ) ترتاليف اوتصنيف لاندې نيول شويده ددې ستر اثرتراوسه دوه‌جلدونه هريو په (۱۰۰۰ مخونوکی ) ځانګری او يوولس ټوکه هريو په ۲۰۰ سوه مخو نو کـی عليحده په ليتوګرافی مطبعه کښې چاپ‌شوی او خپاره شويدی دريم جلدئی هم په ۱۰۰۰ مخونو کښې ترچاپ لاندی دی چه زربه خپورشی، پدې ډول دښتو آريانا دائرةالمعارف ۳جلده اوه۱۵ ټوکه چه ګرد سره ( ۳۰۰۰ ) مخو نه کېږ ی طبع او استفادی ته چمتو دی .

ب : دښتو ژبی دلغانو کـتابونه :

۱ ـ پښتو سيند، يومهم اثر اودښتو لغوی قامو س دی چه په خورا زيارسره دډېرې مودې د تجا ربو له مخی چه دلغاتو اصطلاحاتو دراغونډولو لپاره‌ئی دټول افغانستان ګردو برخوته رجوع شوی اوپه خورا علمی، ادبی دقت سره ، سره او سوچه دښتنی (لغاتو ذخيرې ) په صرفی او نحوی قوا عدو سنبال را غونډی شوی، بيادانتقاد په‌نظر اوژورو څېړو نو ، هغه را غونډ کړی شوی دخاير جرح ، تعديل ، رد، اومنل شو يدی ـ دامهم

اثر دښاغلی ستر پښتون (محمد گل‌خان مهمند) تالیف دی چه په ۱۳۱۶ شمسی کال په کابل کښی چاپ اوخپور شویدی .

۲- دسپیڅلی پښتو، دلغت کتاب دلعل محمد کاکړ او نورو لیکوالو په مرسته په قندهار کښی چاپ شویدی ، ددې کتاب دلغاتو ترتیب اوتردیف په پارسی‌دی اودهرلغت په مقابل کښی دپښتولغت لیکل‌شویدی، تقریباًلس زره لغات‌لری .

۳- لس‌زره‌لغات ،داکتاب په ۱۳۲۰ شمسی کال په کابل کښی دپښتوټولنی لخوا خپور شویدی دلغاتو ټولوونکی محمد اعظم ایازی اودپښتوټولنی نورغړی‌دی .

٤- دپښتو اصطلاحات اومحاوری : داکتاب دمحاورو مجموعه اولیکونکی ئی (نوری)دی‌او په ۱۳۲۰ش کال‌دپښتوټولنی لخوا خپورشویدی.

ج گرامری کتابونه :

۱- (معلم‌پښتو): په‌قندهار کښی دپښتو انجمن لخواجوړشوی اوپه ۱۳۱٤ش کال هم‌هوری چاپ‌شویدی

۲- (پښتوښوونکی):محمدعثمان پښتون‌لیکلی‌دوه‌جلدونه‌لری په ۱۳۱٦ش کال په‌لاهور کښی‌چاپ شو .

۳- خودامونز پښتو: دمولوی صالحمحمدخان لخوا په ۱۳۱۳ش کښی‌چاپ شویدی .

٤-دپښتو ژبی‌لپاره : دمحمد گل مهمند تالیف اولومړی گرامردی چه‌په‌پښتولیکل‌شوی اوپه ۱۳۱۷ش کال چاپ شویدی داکتاب خورا پوخ اوگټور کتاب ګڼل کیږی .

۵- قواعدپښتو: داګرامرمحمداعظم ایازی په پارسی‌لیکلی اوپه ۱۳۱۸ش کال چاپ اوخپورشویدی .

٦- پښتوکلی: ٦سمستر یو پښتو درسی ګرامردی دښاغلی رښتین اوزمریالی اثرپه ۱۳۲٤ش کښی‌چاپ شویدی .

۷- لومړی لارښوونکی: داهم‌یو درسی لومړی ګرامر دی درښتین‌لیکنه ۱۳۲٤ش کال‌چاپ‌شویدی دکورسو لپاره .

۸- پښتوقواعد : دمعارف دمتوسطه مکتبو لپاره ښاغلی ایازی لیکلی‌اوپه ۱۳۲٤ش کال‌چاپ‌شویدی .

۹- دپښتولوی ګرامر: ددې اثر لیکونکی ښاغلو رښتین اومولوی‌شیرګل‌دی دکابل په‌مطبعه کی چاپ شویدی .

دپښتوادبی اوتاریخی کتابونه:

۱- پښتانه‌شعراالول‌ټوک: دښاغلی‌حبیبی‌اثراوپه ۱۳۲۰ ش کال چاپ‌شوی، دروستنی زمانی‌لومړی ادبی‌تاریخ‌دی

۲-پښتانه شعرادوهم‌ټوک:دښاغلی رښتین‌اثراو په ۱۳۲۱ش کال چاپ‌شوی‌دی .

۳-پښتنی‌میرمنی: دښاغلی‌بینوا اثر اوپه ۱۳۲۳کال‌طبع شوی دپښتنومیرمنو شرح‌حال‌لری .

٤- پټه‌خزانه: یومهم‌تاریخی اثرچه‌پخوا ذکر شوی دحبیبی په‌تحشی اوتعلیقاتو په ۱۳۲۲ش کښی چاپ‌شویدی :

۵- دپښتوادبیاتوتاریخ: دښاغلی‌حبیبی‌مهم اثر او په ځلورو جلدو کی لومړی جلدئی په ۱۳۲۵ش کال‌چاپ شویدی .

٦- پښتومتلونه: دښاغلی زمریالی اثر اوپه ۱۳۲۷ ش کال دپښتوټولنی لخوا خپورشویدی .

۷- داحمدشاه بابادیوان:دښاغلی‌حبیبی‌په‌تعلیق‌په ۱۳۱۹ش کال کی‌دپښتوټولنی لخوا چاپ‌شویدی .

۸- ملی‌پسرلی: دښاغلی حبیبی یوه کوچنۍ منظومه ده چه‌په‌قندهار کښی چاپ‌شویده .

۹- دخوشحال‌خان اوعبدالقادر خان دیوانونه : دادواړه کتابونه‌دښاغلی‌حبیبی په‌تصحیح له‌قندهاره خپاره شویدی .

۱۰-دپسرلی نغمه: دښاغلی‌الفت‌یوه‌وړه‌منظومه‌چه په ۱۳۲۰ش کال کښی خپره شویده .

۱۱- لوی‌ژوندون:دښاغلی‌قیام‌الدین‌خادم اثراوپه ۱۳۲۰ ش کال خپورشویدی .

۱۲- ملی‌سندری: دښاغلی‌نوری‌ټوانه‌دپښتودری زره‌لنډۍ په ۱۳۲۳ش کال کی خپورشویدی .

۱۳- ملی‌هنداره: دنوری اثر ۲جلدونه لری لومړی ئی په ۱۳۱۷ش کال اودوهم‌ئی په ۱۳۲۵ش کال چاپ‌شویدی .

۱٤ - دمینې‌مینه : دمعاصرو شاعرانو داشعارویوه کوچنۍ مجموعه اورادیو دنشریاتو لخوا چاپ شویده .

۱۵- دغنموزی: دښاغلی بینوا اثر یوه وړوکی منظومه ده اوپه ۱۳۲۵ش کال چاپ‌شویده .

۱٦- پښتوسندری: دښاغلی‌الفت ادبی اثراوپه ۱۳۲۵ش کښی چاپ‌شویدی .

۱۷پښتنی سندرې چه (۸) زره خورې لنډۍ ،داتن ډول ډول نارې‌دشین‌خالو ناری، دکاکړوغاړی‌لری، چاربیتی، غزلی نیمکۍ، بګټۍ اونورملی اشعار پکښی راغونډ شوی خورا ستراوغوره اثردی په دوو جلدونو کی .

۱۸- غوره اشعار چه دپیاوړی الفت داشعارویوه لویه برخه اودپښتوټولنی لخوا په‌خورابنه خط دآف سیټ په ماشین چاپ شویدی .

۱۹- اجتماعی روزنه چه دژوندانه طرز په‌یوه آسان علمی طرز ښودلی شی اودمصر دپیاوړی ادیب علی فکری اثر اودښاغلی سیفی‌ترجمه‌ده .

۲۰- دستروا کمن پاچاشیرشاه‌سوری‌تاریخ چه‌ددې‌پرعدالت اداری‌قدرت اوحکومتی طرزښه‌رونا اچوی او په‌لنډ صورت ئی درښودلی شی .

۲۱- دهندسفر:چه دهغو مختلفو مملکتو دمسافرت دلیدنو کښتوحالات اومعلومات دلیکنی په مهارت سره تاسی ته درښودلای شی .

۲۲- دمینی هنداره: چه په خوږو الفاظو او عباراتو سره دانسانی عاطفی دځرګندولوښه نمونه ده دپښتو ټولنی لخوا .

۲۳- دښاغلی عبدالله خان افغان نویس دلغاتو ستر کتاب چه ٤٥ زره لغات اواصطلاحات لری، دآریانالوړه جایز ئی وړی اوترکښته لاندی ده .

۲٤- دښاغلی سیدحیدر یاسین زی دافغانستان منظوم تاریخ: چه په ٤٠ زرو بیتو کښی تمام شوی او دآریانا ستره جایزه ئی اخستې ده،اوس خپرېدونه چمتوده .

۲۵- ای ګرامر آف پښتو A Grammer af Pashto دا اثر دښاغلی پنرل Penrl امریکائی پوهاندا ثردی چه سبزکال وارسېدلی اودری برخی لری: لومړی پیل اومقدمه:دوهمه برخه دپښتو صرف: دریمه برخه نحوده:داکتاب په انګلیسی ژبه اوخوراقیمتی اثردی .

دبیرمحمد،کاکړ دیوان : دادیوان دښاغلی بینوا په تصحیح اومقدمه دپښتوټولنی لخوا خپور شویدی .

ه فقه اللغه اوفیلولوژی :

۱- پښتوفقه اللغه په پارسی لیکل شوی او په ۱۳۱۷ ش کال کښی چاپ شویدی .

۲- لغوی څېړنه : دښاغلی الفت اثر اوپه ۱۳۲۰ ش کال چاپ شویدی :

وله خارجی ژبوشخه ترجمی :

۱- دکوچنیانو اخلاقی پالنه : دښاغلی خادم ترجمه اوپه ۱۳۱۷ش کال دپښتوټولنی لخوا خپور شویدی .

۲- نیک بختی: داکتاب له انګریزی شخه په پارسی اوبیا په پښتو ژبه ښاغلی سلیمی ترجمه کړی اودپښتو ټولنی لخوا خپور شوی .

۳- په ځان باور: دښاغلی سلیمی ترجمه چه داصلاح په وړځپانه کښی خپور شویدی .

٤- دژوندانه لاری: دحدادمصری اثر ، اود ښاغلی سیفی ترجمه دکابل په مجله کښی خپورشویدی .

۵- په پته دپتی پلټنه:دښاغلی مرحوم کشککی اثر په ۱۳۱۸ش کال اوبله درامه ئی (پته مینه) داصلاح په روزنامه کښی خپاره شویدی همداډول دوه سره مین ورونه:بله درامه دمحمد رفیق اثرهم په اصلاح کی خپره شویدی .

٦- پښتوخبری: یوداسی کتاب دی دمعارف دوزارت لخوا په ۱۳۱۵ش کال چاپ شوی دښاغلی زهیر اثر دی .

۷- پښتوژبه: دمولوی صالح محمد تعلیمی اثر دوه جزء دی په ۱۳۱٦ش کال دپښتوټولنی لخوا نشرشوی .

۸- لیک ښوونکی: دښاغلی نوری اثر ، دپښتو انشاء ده دپښتوټولنی لخوا چاپ شویدی .

۹ - د پښتو قرأتونه : له اول ټولګی تر لسم ټولګی پوری دمعارف دتعلیمی قراتو دسلسلی په لړ کښی چاپ شویدی

۱۰- دمعارف نورداسی کتابونه له اول ټولګی ترنهم ټولګی پوری ټول مضامین په پښتو لیکل شوی او چاپ شویدی مثلادحساب، هندسی، جغرافیی، معلوماتو، اخلاق، دینیات،تاریخ سیانس اوداسی نورمضامین

۱۱- دمعلم لارښوونکی: اوداسی نور پښتو کتابونه په زیات شمیر سره دمعارف لخوا لیکل شوی اونورهم لیکل کېږی .

په پښتو کښی پښتو آثار:

هغه شان چه دلته دپښتو نهضت روان دی په صوبه سرحد اوټول پښتونستان کښی لکه پښور ،سوات، کوټه اونوروځایو کښی هم دپښتودژبی اوادب په روزنه ،پالنه پوهان کتابونه او ګټور آثار لیکی لکه شل کاله پخواتر دې چه (دانجمن اصلاح افاغنه ) په نامه یوه ټولنه هوری جوړه شوی وه او دپښتو په خدمت کی بنه برخه اخیستیده ، اوس د(ادبی جرګې) په نامه یوټولنه شته ده چه پښتو په خدمت کښی لګیاده ،دبزم ادب ، په نامه یوه بله ټولنه پښتوته کار کوی ، ځینی هغه پوهان چه دخپلی ژبی په روزنه کی څه کتابونه لیکلی دی، نومو نه ئی لاندی ښودل کېږی .

۱- ګنجینه افغانی: دقاضی رحیم الله اثر یو ابتدائی ګرامر دی چه داعلیحضرت ظاهرشاه حضورته ئی اهدا کړیدی .

۲- لغات افغانی: سیدراحت زاخیلی دلسو زرو لغاتو په حددو کښی په اردوژبه لیکلیدی اوچاپ شوی .

۳- پراورنیل ډکشنری : دقاضی رحیم الله اثر ، او دپرش زره لغات اومحاوری پکښی ټولی شویدی .

٤- مکتوبات افغانی: دپښتو مکتوبونه د قاضی رحیم الله اثر په پښور کی خپورشوی اونور قواعد هم لری .

۵- لغات انګریزی پښتو: د میرزاسید محمد اثر اوپه راولپنډی کښی چاپ شوی د ۱۳۱۸ شمسی کال د سالنامی له مخی .

٦- ګلدسته: دپښتو په نثر کښی یو اجتماعی اثر اودچارصدی محمداکبر لیکلی په ۱۹۳۷ع کښی چاپ شویدی .

۷- ښکلی رسول : دخانمیر هلالی تالیف چه موضوع یی اخلاقی ده په پښور کښی چاپ شویدی .

۸- دسوات دریاست تاریخ : د عبدالغفور قاسمی اثر په ۱۳۵٦هجری کی چاپ شوی په روان نثر دسوات تاریخی حالات لری .

۹- مسئله خلافت : دسیداخان شینواری منثور اثردابوالکلام آزادله کتاب څخه ترجمه اوداسلام په حقیقت کی یوغوره اثر دی .

۱۰- دپسرلې ګل: دعبدالله‌جان (اسیر) یوه خوږه منظومه ده‌چه په پېښور کښی چاپ‌شویده .

۱۱- ګل کوهی، ادبی‌مرغلری: دا دواړه دوه منظومی دی چه‌فضل‌احمد کوهی نظم کړی اوپه هند کی چاپ شویدی

۱۲- جنګنامه انوریی : دسیدراحت یوه منظومه ده چه دمشهورانور پاشا دژوند حال اوجګړی ئی پکښی بیان کړی سیدراحت داکتابونه (دزړه دردشلېدلی پښه، داغستان راحت ) هم لری .

۱۳- تاول د ماه رخ : دپښتو په روان نثر د (راحت) یو خوندور ،رومان دی چه چاپ شویدی .

۱٤- خزان دافغان : دپښتو نظم دی چه‌په قومی درد لیکل شوی اوپه‌پېښور کښی چاپ شویدی .

۱۵- حالات محمد (ص) : دامیرمحمددپښتوقاعدی‌دمولف‌اثر په‌اردو کی ، چه دپیغمبر (ص) دژوند کارنامی یی لیکلیدی او دسیر نبوی (ص) یوخورا مهم کتاب دی .

۱٦- دپښتو ډرامی : په پېښور کښی نسبت نوروته دپښتو خو را خوند وری ډېری د رامې لیکل شو ید ی چه شمیر ئی ګران دی .

۱۷- درس‌غیرت : دعبدالله (اسیر) «شهیده سکینه ،اوخوږ ژوندون» عبدالخالق خلیق ، لیکلیدی خورا ښی دی .

۱۸- درد : دامیر نوازجلیا ، یوه‌ډرو کی درامه‌ده چه‌نظم اونثر دواړه‌لری ، خورا خوند وره درامه ده .

۱۹- دوینو جام : دا درامه د محمد اسلم‌خټک اثر، اونوی روشنی ، او همت دواړه فاضل رحیم الله لیکلی « جو نګړه» د عبدالاکبر، اکبر اثردی ، پدی ډول ممکن نوری درامی‌هم ډېری وی .

۲۰- تعلیمی : په تعلیمی برخه کښی هم ډېر کتابونه لیکل شویدی، اواه‌اوله څخه نیولی ترځلورمه پوری د پښتو تعلیمی قرائتونه عبدالخالق خلیق جوړ کړی ،اوځینی نوری قاعدې هم په‌اردوژبه‌جوړی‌شوی اوپه‌پېښور کی چاپ‌شویدی .

۲۱- اخبارونه: په مرکزی پښتو نستان کښی اخبارونه او مجلی ډېری شوی‌دی خو دپاکستان د حکومت دفشار په سبب آزادی خپرونی نشی کولی ،پخواتراوس دغه اخبارونه اومجلی هوری خپریدلی :

۱- (دپښتون‌مجله) اوس بنده‌ده ، ۲- دآزادپښتون مجله، ۳- د سر حد مجله ، ٤- ز لمی پښتون ، ۵- د خیبر مجله ، ٦- د جمهو ریت اخبار ، ۷ - د انګار اخبا ر ، ۸- د پیغام سرحداخبار ، ۹- دنن پرون‌مجله (اوس بنده‌ده) ، ۱۰- دژوند مجله له‌ډېلی څخه خپریدله .

## د پېښور او جنوبی پښتو نستان اوسنی ادیبان اوشاعران‌دادی :

درحمان دمزارله مشاعری‌څخه :

مولانا فضل محمود مخفی : مرحوم مخفی دپېښور یو خوږ ژبی شاعر اودپښتونولی لیوالؤ .

دده د کلام‌نمونه : پښتنی‌دعا :

خاونده ته و دانه کړی  زمونږ دیووالی حجره
یوځه پکښی دلحانه کړی  د پښتنو ډله خو ر ه
یوزړه‌یوسا،یوشانی کړی  دې‌بیل‌اوبیل پښتون لره

☆ ☆ ☆

کشمیر نه تر هرات پو ری  بلو چستان نه تر دو ری
داټول پښتون دی هرچیری  څر نګه پروت ذری، ذری
دیو و جو د پشا نی کړې  یا خدا یه دا ذری ، ذری

☆ ☆ ☆

ولی‌محمد طوفان : دپېښور یوتود وینی انقلابی شاعردی ، دده‌د کلام نمونه داده :

لا بی له ما چه د د غری کو ی
په وړه خو له بو ئی خبری کوی
ماته چلو نه د الوت ښئی نن
زما پەلاس کښی چه وزری کوی
په مغو لتیا خو هسی چا ری کوم
لکه شا هین چه په کوتری کوی

☆ ☆ ☆

راج‌محمد درانی : د رحمان په مزار :

د تخیل دا باسین ئی څه پایاب نشته دی
هریو شاعر ئی په‌ساحل‌ولاړحیران‌وینمه
دریغی‌چه ګل‌شی دپښتو دباغ‌غوټی‌ړ همګی
دراج‌په‌زړه کښی پټ دننه‌دا، ارمان وینمه

نجیب په‌ارمانجنه لهجه باباته وائی :

پوه یم چه‌څه در ته تحفه کښی پېش کړم
مینه خالی کومه کاسه کښی پېش کړم
خیر دی په هر یوه الز ام کړه با با
خو د کام مینی ته می پام کړ ه با با

☆ ☆ ☆

قاضی‌فتح‌الله خان وائی:

کلی‌ړ غم دی ګل ئی‌غم دی  پسرلی غم دی خزان غم‌دی
چمن غم دی ، وطن غم‌دی  د غمو نو ئی صحرا د ه
دغه څر نګه د نیاده ؟

فضل رحمان هم باباته وائی :

په‌شعرونو دی‌مین‌دی‌ورسره‌هم په‌تاباندی
عقیدت ګلونه‌لحکه په‌مزار باندی ستالونی

زه‌رحمان دی، ای‌رحمانه ! ځکه تل‌یم ثنا خوان
ستا په‌شان خوازه شعرونه چېرته ماندی لیدلی

عبدالله استاذ، دنوښار وائی :

محنت وکړه دابنجر مخکه ګلزار کړه
چه ګلزارشی‌خبردی ته‌ئی ځان مالیار کړه
که‌دی خیال وی چه ته‌شی مخدوم دخلقو
ځان اول ددغو خلقو خدمت ګار کړه

☆ ☆ ☆

غلام حیدر دیووالی درس کام ته ور کوی :

په‌تور لمر لکه‌دی‌پرخی تار په‌تارچه‌نه‌شی
تك‌په‌اتبار کښی چاله‌ورنه کړی‌ښامارچه‌نشی

سامع مطهری وائی :

دنیا ئی ورو، ورو خیرښی ی  د تیا ری په تینه ګو نو
سا مع زیـری نن را وړی  بـا باستا له شین چمن دی

جانس‌خان دسمندرخان بدرشوی کشر ور ور وائی :

لوی هغه دی چه څوك موږ پو هوی
لوی هغه دی چه څوك موږ لـویوی

صاحب شینواری وائی :

که‌دی خیال وی چه بابا شمه د خلقو
ده ممکنه چه رحمان شـی پـه همت
پتنګان به‌ځان ستی کړی ستا په سر
که څراغ غوندی سوزان شی په‌همث

بسمل پښتوری وائی :

پرښودل تختونه پاچاها نومعشوقو پسی
تنګ‌رباب په‌لاس ئی‌په‌صحرا، اوپه بیدیا وینم
خوب کښی دوصال ګلونه باغ کښی تولومه‌زه
تك‌چه رابیدارشوم په‌صحرا کښی ځان ټالاوینم

سوز پښتوری‌وائی :

داستا جهان کښی اوس دژبی خوځیدل منع‌دی
غوښی، شو کول کړه‌په‌انبور،فریادژړل‌منع‌دی
زړه که اوبه شی ددوو ستر ګو بهیدل‌منع‌دی
نورخولا پرښزده‌چه‌اوس تاته‌خدای ویل‌منع‌دی

خاطر پښتوری داسی وائی :

وشوه چه خندا وشوه ستا دغلیو ستر ګو نه
ښکلی ابتدا وشوه ستا د غلیو ستر ګـو نه
یو واری‌دی‌پورته کړې، یوخاطردی یووړلو
وړه دُدنیا وشوه ستا د غلیو ستر ګـونه

سیار پښتوری وائی :

دامزاردی‌دباباعبدالرحمن‌پری  ګلزاردی‌همه واړه قبرستان
زر ګـران د ز رو قـدر بـا نـدی
پوه‌دی‌ځکه‌جمع‌پریښنن ټولدی‌شاعران

☆ ☆ ☆

مطهر پښتوری وائی :

پښتو نه چه قـامونه دعزت په نظر ګوری
دا واړه دبـا بـا هم برکت او عنـایت دی
پښتو می معشوقه ده زه مین په پښتو ډېریم
پښتو سره‌می خدایښو ډېره مینه محبت دی

☆ ☆ ✡

شیدا فضل‌حق‌دسنبور سترشاعر رهنماته داسی خطاب کوی:

شمعه په لاس زموږ نه مـخ کښی شولی
تـاوی ر هبر یـمه را ځـی را پسـی
او ږ د سفر پـه تـګ لنډ پښی مدا م
غښ چه کړم تـاسو تـه را ځی راپسی
تـاوی دریـاب نه پوری بـا سمه مـو
تر مرۍ ډو بـو زمـا لاس و نیسیء
هسی نه‌تیټ‌ئی کړیء‌غرقښی ګوریء
څټو نه نیغ ، سرو نه پـاس و نیسیء

ښاغلی، علی‌حیدر داسمعیل پخپل خیال دبابا ادب او ژبی

حفله کړی خدمتونه پدی شان ستایلی :

داهغه زلمی‌دی چه‌پښتوژبه دپاسه کړه ده
پـا نی میر ا تـه کړ ه ده
اوس مونږله‌په‌کاردی‌چه‌دخپلی ژبی‌قدر کړو
پور ته ئی لکه بدر کړو،
ستـا د ګنډو شوی اراده د آبـا دیۍ شو له
ژ به د ی ژ و ند یۍ شو له

دادحبیب‌الرحمن قلندر دوَلس ، قوم او وطن سره هغه دپت

ساتلو، وعده ده :

تل‌درحمن‌دپاك‌مزاره‌ځینی‌ماپه‌سندرو کښی ستاغم‌ژړوی
چـاکه ګـلونه سحرونه ستـایل
وطنه‌مادی‌پرهرونه‌ستایل‌چه که‌په‌زلفو کښی ټالونه‌وهل
قامه‌ماځان‌دپاره‌دارخوښ کړو

فضل‌رحیم‌صافی دیوه‌حسب‌حال حقیقت اظهاردارنګ‌وکړو :

ستر ګی‌داوښکو، ټولی‌خولی دارمانونوډکی
مینی ز مونږ دلویو، لویو، داستا نونوډکی

پنجری پرتی دی، لور په لور، دفریادونو، ډکی
میخانی ټولی دسرو وینو، په جامونو ډکی
د ښاغلی لحیگر اپریدی د کلام نمونه ، درحمان بابا دمزار

له مشاعرې څخه :

خیال ددی زلفو چوړ به خود کړمه زه
را ته په پښو کښی ز و لنی ښکاری
ستا د ز لفا نو ، ا ند ښنو و پ ری ده
څهر ی لحیگر چه د شا نی ښکاری

✡ ✡ ✡

د ښاغلی غلام سرور خان مومند، د کلام نمونه ، دبابا د مزار

له مشاعری څخه :

نن می خواوته را ډرو می جا نان چوپ
را ته گو ری د حیرت نه آسمان چوپ
عناصریی کل خامو شه نندا ری کړی
اور، اوبه، خاورې ،بادونه غلطان چوپ

✡ ✡ ✡

غمازی می رنړو او ښکو ور ته و کړه
ماکه ډپر ساته په خوله کښی زبان چوپ

دپښتو رومان لیکو نکی شاعر «سلیم» پښتنی مخکی ته دغیرت په جذبه داسی وائی :

✡ ✡ ✡

مو ری، را ویښه شه پښتو ن و یښ کړه
لیلی به لاړه شی مجنو ن و یښ کړه
ور ته خو شحال ، و ر ته ایمل و ښیه
و ر ته د خیل حفا ظت چل و ښیه
ته چه شی و یښه ز لز لی را شی
پر اورنگ ، قبر کښی خولی راشی

ولی محمد دهیوا دلوی انقلابی لیکوال ، درحمان بابا دمزار

په مشاعره کښی داسی وائی :

په مقدسی پښتنی مخکی سو گند کومه
قسم دخپلی دنیا کی په نوی ژوند کومه
خورم د خیبر په کبزلیچو نو په پیچوموقسم
ددې غړانگو پښتنو ورونو په کوموقسم
که یومغل راځنی پاته شو طو فان به نیم
او که پدې کښی څه دروغ وی مسلمان به نیم

محمد یارخان دباجور، یوزلمی شاعر ،درحمان بابا په مشاعره کښی داسی وائی:

نه کوم لوبی د گلونو سره
مقابلی دی ، د دا مو نو سره
دلته د او ښکو چینی تا نه ی لا
زه هیڅ حا جت ددی شبنم نه لرم

✡ ✡ ✡

ناصر کښکر دپښتور: دده د کلام نمونه درحمان بابا دمزار په مشاعره کښی داده .

دلاری ستون شو ی چه څه خبره ؟
دریغه منز ل ته ، رسیدلی خو وی
خپلی خبری دی پر هېڅ کړی په ما
دار و ، دی هم را ته ،را کړی خو وی

ښاغلی عبدالاکبر، اکبر دچارسدی داسی ویلیدی :

څه امید تړې لرې دښا یست دچمن
بچی پا تی چه تل دپردی مور په شیر
مخ تورن نیمه خوا به آخر ترینه لحی
که په شوق ډپر لړی دغیردیك په کفگیر
دقام تومنه زماهسی و رانه شوه بیا
نه به کوچ شی ، چهری، نه شوملی نه پنیر

✡ ✡ ✡

داستا دخان گل ( دکاکاصاحب دزیارت) د کلام نمونه داده :

زه په قربانی کښی له رقیب نه ډپرشه مخکښی یم
ولی مقتدی شم زه دعوی دامامت لرم
زه که دی کړم جذب داو بوغوندی شکر وړه کښی
بل ځای کښی به وخم پخوانی دغه عادت لرم

✡ ✡ ✡

تاج محمد خان خاموش د پښتو ، او پښتو نولی په حال داشان ژړا کړ یده :

پاتی شوه لا ر د پښتو — نه کړی څوك کار د پښتو
ورك دی و قار د پښتو — پرپوو ت دستار د پښتو

ایوب صابر د کوهاټ زلمی شاعر ، دخیبر غوزوته خپل شعر رسول غواړی:

دغه ماتی گوډې نښی دقا مو نو افسانی دی
دهر گام تیښی لاندی تېرې شوی زمانی دی
دغه لویه تیښه گوری؟ تیښه نه ده داخیبر دی
یوشاوخوا کښی ددی تیښی هر ښاغلی لښکر دی

دعبدالله جان مغموم پښتوری ،د کلام نمونه داده :

وخته ! بس په وړاندی مه څه — ورو سته پا تی قا فلی شوې
دا گلونه که ا غیز ی دی — خدای خبر شه چه دا څه د ی
هم می خښ شول په نظر کښی — هم می ستر گی پری خوزی شوې

«دمیرمهدي شاه صاحب مهدی»د کلام نمونه‌داده :

اې! آزادی، زمادښکلی وطن روح آزادی‌دخوار ژلس
دخوب‌غمجنه اودرمنده تعبیر ددې‌وطن دناو انو ، اومنښتو زامن
ستاپه‌نذرونو کښی ووځومره ننګیالی منلی؟ دملك‌غریب‌نهر بربند
اووزی تبزی زلمی چه انقلاب ته‌دی وطن سینه بربند وو ولاړ
همیشه‌ګل، همیش دپښتور: یوسر ښند ونکی‌او شجاع شاعر دی

دده دکلام نمونه‌داده :

دوطن‌مینه

موتی‌خاوری دوطن به‌پری ور نه کړم
که په سر د ځمکی هر وطن ختن شی
خپله خاوره به په خپلو وینو پالم
که حاجت ئی قربانی زما دتن شی
که غلیم له مابری یو ژوندی محبوب بی ؟!
ستا پرو نی دی زما د تن کفن شی

استادمیرحمزه شینواری: دپښتور یو پوخ‌اوزبردست شاعردی

دده دکلام نمونه‌داده :

آورم چه‌ښیری کړی ، دچا ستر گوته
څومره بلا سترګی ، بلا ستر گوته
لاپه خیرېدو دی کاکل تیارې
څنګه می مشکی شو صبا ستر گوته
خدایزو ، زماسترګی ، زماسترګی دی
تاوکتل نن‌چه زما ستر گوته
خاندی، حمزه ګوره په‌اغزو کښی ګل
وردی کړو دعوت د ژړا ستر گوته

ښاغلی اجمل‌ختك: دختکو نامتوشاعر، دده‌دکلام‌نمونه‌داده :

نه‌غواړم بی‌سوزه زړه،بی‌سازه رباب نه‌غواړم
ویښ‌شه خوبولی، نازولی ، شباب نه غواړم
لحالی‌دشهبازنه ، پرو بال دشهباز نه غواړم
خاوری دسربازنه ، تلوسی دسربازی‌ غواړم
ترو دخیبر نه ، مټی ، توری ابدالی غواړم
کور دبت‌شکن نه ، ولولی بت شکنی غواړم

ښاغلی‌خلیق دپښتور پیاوړی شاعر، اوددده‌دکلام‌نمونه داده

دپښتوژبی‌ژوند:

زهر قاتل دغیر دجام آب حیات کښی وینم
جادو گری دغیر و ژبو کرامات کښی وینم
زه مار خوړلی دعراق په تریاك نه رغیږم
زه‌روغ صورت دخپل‌پاړوپه ملاقات کښی‌وینم
طبیبه ته که دارو کړی ، زما دژبی وکړه
زه‌خپل ژوندون دخپلی ژبی په‌حیات کښی‌وینم

☆ ☆ ☆

ښاغلی نصرالله نصر: دپښتورمعاصرشاعردی چه‌درحمان بابا
په مشاعره کښی ګډون در لود ، دکلام نمونه ئی داده :

مجاز ندی حقیقت دی قول ، ګفتا رستا
مونږښه‌پوه یو چه مطلب‌دی کوم‌نګارستا
ته عارف یی ، معرفت نه دی خبر کړو
ستا کلام نه معلو مېږی ټول ګردار ستا
په سلوك کښی لا ثانی یی پښتو نخوا کښی
دی سلوك چه مو نږ ولولو کوم اشعارستا

☆ ☆ ✱

ښاغلی‌سیدراحت‌الله راحت: دپښتور یوسابقه دارشاعردی،

دده دکلام نمونه‌داده :

حاضری کښی مشکلات چه کوم رابښه‌دی
دابی خو نده ګیه څه در و اروم زه
د غم غشو می سینه غلبیل ، غلبیل کړه
دا دا غو نه د زړه څه در و ښیم زه
زماوختونه څومره زیات خاوري اپری شول
دا ارمان هم په هغو کښی خښوم زه

☆ ☆ ☆

محمد کامل : د پښتور معاصر شاعر د رحمان بابا

د مشاعري رکن اودکلام نمونه‌ئی داده :

خیری هر خواته وریځی، بارانونه دی اورښی
زلی هم پکښی ور ښی طوفانونه دی چلښی
(باړه) بیا چیی‌چیی‌شو، په‌مستی (لنډی) بهیږی
اباسین شو چلی چلی اوتاوښی ، بیا تاوښی
که‌خدای کازه به‌تل پایم ، پښتور یابه خیبریم
په تیټ والی لکه سمه ، په جګوالی لکه غریم

☆ ☆ ☆

قلندر: دپښتور یووطن دوست‌شاعردی ، دی درحمان بابا
دمشاعری رکن او دکلام نمونه ئی داده :

ستا دجبین په‌پلوشو می قسم زړه‌می له‌تانه تورېدلی‌نه‌شی
پخیل‌غیرت‌ننګ‌وپښتومی‌قسم چه‌دا عادت می‌نورېدلی‌نه‌شی
زه او دتاسره به‌پت‌نه پالم؟ دامی‌په‌زړه کښی‌خورېدلی‌نه‌شی
پت اوپښتو زړه‌قاعده ده زما دغه له‌تاسره وعده ده زما

☆ ☆ ☆

رضا مومندی : دپښتور یو زلمی اوله درده‌ډك شاعر دی ،

دکلام نمونه ئی داده : ملی‌بیرغ‌ته سلام :

ای‌چه روح دآزادی‌ ئی سلامی‌ته ستا و لاړ
په‌سینو کی‌موراوړی‌تاته‌خپل‌شوق‌مضطرب‌دی

ته‌چه‌رپی‌په‌هوا کښی،نوزړه تن کښی‌به لرزان‌شی
ته‌دی ژوند هغه بیه ئی چه پکښی‌مې مقدر دی
ته‌چه ماسره یوځای‌ئی نوخطر به مې‌وی لری
وپره نه‌مې‌شی له‌هغه نه، تپره توره ،که خنجردی

سلیم : دپښتو یو ملی او خورا دردمند شاعر دی ، دده دکلام نمونه: پښتنې مخکی ته :

ای دپښتون دغیر تونو مخکی ☆ ای دپښتون دعظمتونو مخکی
ستاله‌دې کانپونه لعلونه قربان ☆ ستاله‌دی شاړونه گلونه قربان
ته‌هغه‌موریی‌چه‌پری‌فخر کېږی ☆ ته‌هغه‌زوریی‌چه پری‌فخر کېږی

ساغر اپریدی : دپښتو ر یوملی شاعردی، دی (خیبرته) په سندره کی داسی خطاب کوی :

پدی تورو هسکو غرو نو کښی خیبره !
ستا د نوم په د ی حر فو نو کښی خیبر
ستا د لار په کښ لیچو نو خیبر ه
ستا په‌خاورو ، او گردونو کښی خیبره
ته خیبر ه د پښتون ئی پښتو ن ستا د ی
دغیور قام د ځوا نانو ژوند ون ستا دی

خورشید اپریدی : ( زه څوك یم؟) تر دې عنوان لا ندی دخورشید دحماسی سندری یوه نمونه‌داده :

خود، داری اودابری‌زما اوصاف دی
زه پښتون یم‌هم‌لرم‌زړه کښی‌همت‌لوی
زه طو فان ز لز له هم سمند ریم
که می گوری یم پخپله قیا مت لوی
مرکیء هم خپله زمانه ډ پر وپر پښی
واوریءخلقو زه یو داشانته انسان یم
زماعالی خویونه‌هرچاته ځر گند دی
دآزاد فطرت خا وند آزاد افغان یم

یونس خلیل : دپښتور ، یو معاصر ادیب « دماشوم دعا» تر عنوان لاندی و ائی :

ماد علم جستجو باند ی شهید کړی
زده کول‌می‌هر آرزو ، اوهر امید کړی
می پرست کړی مادعلم میکده کښی
پت پرست کړی مادعلم بتکده کښی
محبت می دوطن خدا یه فطرت کړې
زما وینه دخپل خوږ وطن زینت کړې

عجب الرحمن کسکر : دا کو ړی یو ملی شا عر دی ، دی «رحمان بابا ته» داسی خطاب کوی :

اې په‌خاورو پټ څراغه ستا ر نا لره قا مونه
دی چاپېره په مد فن ستا په تا وائی سلا مو نه
دزخمی زړ کوتې خون‌دی داغرو په‌څو کوباندی
دلا له په پانپو کښی دی دمرغو په نوکوباندې

محمدقاسم مظهری: دپښتور «پوهنتون» یوحساس زدکړی وائی :

وار خطا رهنما یان دی قا فلی د ی پر پشانی
دنفسی نفسی نا ری‌د ی فکر نشته د بد نا می
تنزل دی په عروج کښی دتخریب و نی تاندپښی
آبادی‌ر دی دهر لاندی دورانی‌رخونی سازپښی

سید قمرعلی‌شاه (قمر ) :د پښتور یو متصوف‌شاعردی دی د(رحمان‌بابا )ترعنوان لاندی وائی :

په فلك د شا عر ی‌ر چه تل تابان دی
پجهان کښی‌لکه لمر عیان رحمان دی
د اخلاقو په اوچت معیار ئی کښیو د
د(بعثت) دلوړ ارشاد دی‌نکته دان‌دی
دپښتو دستر ګو تور چه نن یا دیږی
(قمر) وائی یوخوشحال‌دی‌بل‌رحمان‌دی

محمد اکرم مشهود : دپښتو ر دیوغزل جوړو نکی شاعر د کلام نمونه‌داده :

بیا د ی د زلفو پیچ وتا ب و ینمه
بیا د مین پر سر عتا ب و ینمه
زلفی خیږې کړه که دی وریځی نشته
ستا په چشما نو کښی شرا ب و ینمه
له قهره ستر گی ئی دی‌تیری مشهوده
نن د قیا مت غو ندی حسا ب و ینمه

ایاز خان : دپښتور غزل جوړونکی شاعرد « کړیکی» تر عنوان لاندی وائی .

زما په ژو ند کی انقلا ب را غلو
څه‌په تند ی‌ر څه په شتا ب را غلو
زمادخیال آلوړ ، لو ړی مانیږ !
لاړی لا هو شولی سیلا ب را غلو
د ژ وند ربا به چه بی سره نشی
دنادانی لا س کښی مضراب راغلو

دادمحمددلسوز : دپښتور ملی‌شاعر د(قلم څوکې) ترعنوان لاندی یوله سوز ډك شعر زغول غواړی‌دادی :

دقلم څو که ما تول غواړم اوس‌خپله‌توره هسکول‌غواړم
رقیبه تا نه به‌دی‌هیڅ‌فصل‌نشی ته‌ئی کره زه‌ئی ریبل‌غواړم
تا نه به‌لحار کړم‌رقیبان دلسوزه دا سپېلنی‌دی‌چه سپخلی‌غواړم

سلطان محمودخان : قلندر: یووطن دوست ملی شاعر دی د( ماشومان لوبوی) ترعنوان لاندی داسی له غیر ته ډك اشعار وائی:

بهار گنهم خودماضی غازی منصف دی زما
وینه زمامینه زماغازی پر ې ځان لوبوی
پښتو نه د ا خبره نو ره زه ز غملی نشم
تا به تر کومه په وطن کښی غمازان لوبوی
بند په قفس کی شو زلمی دسلو کالو بوډا
په تصور دخپل زړ گی مخکه آسمان لوبوی
دخپل غیرت توره په لاس د پښتنو کړی ربه
بیادی نښان په کل جهان باندی افغان لوبوی
خیبره ستا په طوافونو بیا قسم خورمه زه
یو یو بچی دی په لکونو دښمنان لو بوی
داستا په رازغواړی ایاز، محمود جنت څه کوی
حوری غلمان دی چیرته کوت کښی زاهدان لوبوی

مظفرخان «مظفر»: د پښتو یوملی شاعردی د(پت پالنی) ترعنوان لاندی کام ته وائی:

قام می ټول دقام فرو شونه بهزار دی
ؤلس ویښ شو، اوس ئی څکه پخوله نه کا
همیشه به ئی په ملك د غیر بیرغ وی
چه ئی توره وی په لاس حرکت نه کا
دا پښتو د پښتنو د زړ گی سر دی
پښتون نه دی، په پښتو چه غیرت نه کا

میرمن ماگله خورکی : خور کی یوه پښتنه زړه وره شاعره ده، داخیل ورور ته داسی خطاب کا :

خیل اجداد، او نیکه گانو ته نظر کړه
خو ا هشا تو ته ئی ور کړه اهمیت
ای پښتو نه ځان بیدار کړه وخت کوتاه دی
بیا نقاب له مخه دور کړ ه د غفلت
دوطن سا تنه فرض په هر پښتو ن ده
پردې لا، کو ی هم ډیر مزاحمت
په خدمت کښی همیشه د و طن اوسه
پښتانه ورو نه آ زاد کړه په همت

مراد شینواری : یو له ځوښه ډك ملی شاعر غلیم ته دتاتړې، شخړه ورپیا د کول غواړی اووائی :

کانپی ئی هر یوایمل، ایمل دی — هره غونډی ئی اجل اجل دی
د دریا خان دملك خو ړونه — دوخت مغل ته یرغل یرغل دی
دمغل چا وده ترینه زا ده ده — دا تا تره ده، دا تا تره ده

صاحب زاده محمد ادریس : د پښتون د «ترانې» تر عنوان لاندی، یوه ملی سندره داسی شروع کوی :

پښتون هغه سړی وی چه ارواح ئی نه وی خوار
پښتون هغه سړی دی چه خواری کښی وی خوددار
پښتون چه ځانته وائی له دولته نه ځار پیژی
پښتون هغه سړی وی چه دولت شی ورنه ځار
پښتون دحق په لاره کښی تل دانگی له خیل سره
پښتون چه و کړی هله نودښمن شی تر ې فرار

شاغلی وهمی : د پښتو ر خوږ ژبی شاعر و « مایوسی » ترعنوان لاندی وائی :

هغه چه تاسی یادا ؤ هغه سحر تهرشو
په تاسو تهرشو، خو په ما باندی بتر تهرشو
سحر خو نه ؤ یوهنگام ؤ دمحشر تهرشو
یومابنامی ډك له هیبته له خطر تهرشو
لدې سحروه هغه تهره شیه دغم وه غوره
هغه کړی تردې تیاری، اودی تورتم وه غوره

☆ ☆ ☆

قدم، قدم باندې خواره دلته دا مو نه دی ؤلا
هم پښه نهولی دسیرو دلته گا مونه دی لا
پټ دانسان دسړیتوب جگ مقامونه دی لا
دیو انسان په بل انسان دلته لامونه دی لا
ماحول لاهغسی غیر، غیردی چه مودانشی هیر
قدم چه و نه نیسی تك لامخکښی پاته دی ډیر

☆ ☆ ☆

مفلس درانی : د کوټی د «خنگه چه ؤ هغسی دی» ترعنوان لاندی وائی -

غم دد وران خنگه چه ؤ هغسی دی تراوسه
ژوندون می گران خنگه چه ؤ هغسی دی تراوسه
فر هاد په تمه د شرینی دی لا هغسی خو
رنگ دایوان خنگه چه ؤ، هغسی دی تراوسه
مادی سمسور به داچمن شی پسر لی مفلسه
خو به خزان خنگه چه ؤ هغسی دی تراوسه

☆ ☆ ☆

فضل رحیم دجنوبی پښتونستان : وائی :

«یارمی له پښتو نخوا دباغ گلونه غواړی»
دروهیلو دقافلی دلاری پلو نه غواړی
دنا لید لو مر غلر و امپلو نه غواړی
زړه ئی دپت او مروت دباغ سیلونه غواړی
کوشش به کړمه چه زمانبگلی دیوان پوره شی
هم به دزړه ارمان دعبدالصمد خان پوره شی

صاحب زاده فیضی : له الفلاح اوپښتون څخه، داسی خپرو نه کړیده :

قافلې دی چه چلېږی لاتر او سه
خو منزل دی چه اوزدېږی لاتراوسه
ګرېوا نونه دی چه شلېږی لاتراوسه
څنګه ومنم چه پرې شول څنځېر و نه
ورمېږونه خو ماتېږی لاتر او سه
زېری، اې تورو تیارو، زبلیو خلقو !!
څو چه یوې دی چه بلېږی لاتر او سه

ناظر شینواری : دکوتی «دارادی» ترعنوان لاندی وائی:

دارا دی چه ابتدا و شوه بس دتکمیل ئی انتهاوشوه
تل داغیاروپه خوږو کښی دی زهر دز وړ عادت ئی ابتداوشوه
حیف چه سلګی رمی ستاترغوږه شوله څونه پهمینه کښی زیا وشوه

☆ ☆ ☆

صنم : دکوتی معروف شاعر د «شناخت» ترعنوان لاندی داسی وائی :

سرزا پورته کړه لهخوابه اې پښتون خا نه خرا به
شاه زلمی دی لاړه ګوری پښی را وخله انقلاب به
ګوره شناخت را سره وکړه زه صنم یم لاجوا به

سیدرحیم شاه «برق» سرحدی: د مظلو مانو آه تر عنوان لاندی یومعشر داسی شروع کړې دی .

نوی ژ ما نه شسو له نوی رنګ رواج وینم
غم په چم ګاوند کښی دی خا ن په ا بتها ج وینم
قمر کړ پور ته بنه رنها مخکه باند پ داج وینم
هر وخت تهر و غشو ته خوار غریب اماج وینم
نه کړی ورته څوك نګاه دا د ی مظلو مانو آه

داجمل خټك لهحده بهر حماسی شعر :

اې دوریځو د آسمان خاونده
منم چه تاسره چې کونه شته دی
ولی په زړه کښی دی څه تهره نه شی
دلته قلم کښی تندرونه شته دی

خیال کاکاخیل: پخه ویناولولیږ .

خیال چه هرڅوفکر وکړ بله هیڅ ترې نه جوړ پښی اباسیند دی منځګړی، هند کیان یو خوا افغان بلخوا

دطوفان انقلابی شاعر ، ادبی مبالغه:

ستر ګی زمادی، ابا سیند خوپرې خبر نه ومه غلط ګمان می‌وُ تراوسه ناګمان با ندې

دمحمدادرپس صاحبزاده خو را پخه خبره داده :

پښتونه، ته منصورئې دحق لاره دې پښتوده
پښتو دی تینګه نیسه وړمونه کړې له داره

دعبدالغنی خان دخان عبدالغفارخان غیور او نامتو شاعرزوی خورامشهور شعردادی :

چه خازې شنی‌مې په قبر وی ولاړې
که غلام مړیم راځی تو کی پرې‌لاړې
چه قطرې قطرې مې پوخ ددښمن نکړ
موری ماپسی په کوم مخ به ته ژاړی
چه پخیلو وینو نه یم لمبید لی
په‌مامه ، پلیته وی دجمات غاړې

محمد اکبر خادم : مرحوم خادم د پښتو ژبی دحرکت په آخرنی نهضت کښی لومړی لیکوال دی خادم په نوی عصر سبك برابر اشعار ویلی اوموضوعات‌ئی انتباهی او عصری دی پلارئی احمدجی نومان پهاصل کی دا کوړی دی اوبیا وروسته د هشنغر چارسدې ته راغلیدی خادم دآزادی په مینه خوازه اوزورور اشعارویلیدی،اردعمرتر پایه پوری‌دکام پهخدمت‌بوخت‌و دخادم دکلام نمو نه لاندې شعرو کوری :

پښتنو کی خدایه بل خوشال پیدا کړې
تودې شپه کړه جهالت هلال پیدا کړې
خوشحال خان پسی بهویر کوو ترکومه
ا د یبان د پښتنو نهال پیدا ګړې
دخوشحال پهشان چه بیاپښتون ژوندی کا
مسیحا د نوی دم دخیال پیدا کړې
چه‌دتر کوهسی کور دپښتو ن جوړ کړی
که خوشال نوی غازی کمال پیدا کړی
دهندوانو ، د سکهانو دخندا شوو
بل محمود لیا احمدشاه ابدال پیدا کړې
پښتانه په ا تفاق چه ور پسی شی
هسی ځوان دستاړې جمال پیدا کړې
که جمال دخدمت نه وی خان ملاکی
ته‌خادم کی دخدمت مجال پیدا کړې

سلیم : سلیم یوځوان اونوی شاعردی خواشعار ئی خورا پاخه اودعشق له‌سوز اوساز څخه بنه نمایندګی کولی شی، دده دکلام نمونه دده له‌یوه غزل څخه ولولی :

نه تابع دموسمونو چه خبر درازه نه ئی
زما ژوندسپرلی،سپرلی‌وی‌خوچه‌پ که‌پیمانه‌ده
ته‌یی‌خوری‌وائی‌سرکه ده،زه‌یی‌څښمه‌چه‌شراب‌دی
داعرق چه ترښه‌وزی،دیوې غنچې دانه‌ده

ستا دستر گو د کاسو نه مقد سی نښی ځا ځی
شرمنده ورته شراب‌دی اوسرښکته میخانه‌ده

سیدعنوان‌الدین‌احمدکاکاخیل: ده‌اخلاق‌محسنی‌دعنوان‌النصالح

ترعنوان لاندی په پښتو تر جمه کړی، مگردده ترجمه دترجمی رنگ‌نه‌لری اوپه‌ډېرقوت‌اوسلیس‌عبارت پښتو شویدی چه‌هرځوك وروباندې پوهېزی، نوموړی کتاب (٥٤) کاله پخوا ترجمه شوی او دپنجاب په سیالکوت کی چاپ شویدی، لدې کبله عنوان‌الدین کاکاخیل دپښتو د نثر لیکلو خورا لوړ ادیب اوبوخ لیکوال دی.

دوست شینواری: دا شاعر دده له‌یوترکیب بند څخه چه دکابل په‌مجله کی چاپ شو یدی موږ وپېژند هر گندېزی چه‌دی دنوی سبك پیرو او اشعارئی ا نتباهی ډډی لری، کلام ئی متین اوروان دی د شینواری دکلام نمونه داده:

فرهادشو خاورې دشرینی نښانی کو می دی
پرونی رنگ زړې صحنې دزمانې کومه دی
هرڅه چه و و البته وو خو په شا تللی دی
مخوړاندې گوره‌دپرون‌تېری کیسی کومه‌دی
ستر گی‌شوې‌سپینې‌په‌ژړا، شونډو پتری نیولې
دناز خندا هغه دستر گو کرشمی کو مه دی
پرونی خیال دی لاپیالی دمیخانی تر نگوی
لښ راپه سد شه ساقی‌چېردی پیالی کومه‌دی
صحراده تشه‌مجنون نشته‌دی، لیلانشته‌دی
هغه دمینی لپونتوب هغه ا دا نشته دی

استادابوفاافغانی: یوافغان ستر پوهاند اوددکن دحیدرآباد په جلال کوڅه کښی د معانی دپوهنو دژوندی کولو داکا دمی رئیس دی - ده په‌اسلامی پوهنو کښی خورامهارت کسب کړی اوداسلام له پاره ئی ستر خدمتونه کړی دی، ښاغلی استاد، دشمس‌الائمه ابوبکر سرخسی «اصول‌السرخسی» نومی کتاب چه ورك وٗ، بیاپیدا کړی اودوجود ډکرته‌ئی راوړی او چاپ کړی دی داستا دنور اثار مو نښ ته‌نه‌دی معلوم خو هرکله چه نوموړی استاد دپښتنی نړی لپاره دافتخارور یو شخصیت دی لدې کبله موددهیادونه پدې مورد کښی که‌څه‌هم محض‌ذکرئی دی، هېره نکړه،ښائی چه‌د استاذ نورحالات اومولفات وروسته زمونږ لاسته راشی اوڅانگړی مضمو ن باندې ولیکو دلته پدې یادونه‌ٙا کتفا کوو.

## ۱۵- په‌لرغونوزمانو کښی دافغانستان ادبیات:

دافغانستان دادبیاتو تاریخ، تراسلام پخوادورو کښی اوچه د(دری) ژبی‌ادب رواج پیداکاوه ترهغه‌پخوا، بوه‌خورا خوندوره اوپه زړه پوری موضوع ده او ډول ډول مباحث لری، خودهغو مطالبو، پخپله دهغو لیکنه گرانه کړې او مطالعه ئې زیاته فایده منه کړې ده.

دپخوانی افغانستان دادبیاتو په‌تاریخ کښی، که هرځومره په‌لیکنه کښی کوتاهی اولنډوالی وشی، خودژبو دپیداکیدو اوتطور له نقطه نظره هندو ارو پائی ژبی‌اودهندی اوایرانی ژبو کورنیو سره له‌ټولو فرو عاتو اوټولو ځانگو ئې، اوحتی دتخاری ژبی پەمناسب د ایطااو سلتیك ژبی کورنیو، ټولی په‌بحث کی رانځی او بیانېزی.

اورسم‌الخط یی مختلف انواع اومختلف اوډو لونه لری لکه آرامی، میخی، خروشتی، برهمنی (کوشانی برهمنی) یونانی، یونانو کوشانی، پرشوی، پهلوی،سریانی: سطرنجیلی شار ادا (برهمنی هندوئی) او نور چه دهر یوه پیژندل ځانته مقدمه اوتمهید غواړی. افغانستان‌دهندو اروپائی ژبی دمطالعی له نقطه نظره یوخاص اهمیت‌لری ځکه چه تقریبا دشلومختلفو لهجو پاتې اوبقایا لا اوس هم ددرو په کښو، وزو او کوتیو (زاویه) کښی محفوظی اوشته‌دی.

دویدی سانسکریت ادب، اوستائی ادبیات، دکوشانی عصر دسانسکریت کلاسیك ادب، دپارتی خراسانی (پرشوی) ادب هرگندیده، اودتخاری، اسکائی اوسغدی غښو (لهجو) مطالعه چه گام په گام د (دری) ژبی د تشکیل دپاره زمینه مساعده اوبرابروی ټولی داسی مسئلی دی چه زموږ دهیواد په ادبی تاریخ کښی ځای‌لری. اودلیکنو، او دډېرودلیکنو اودمسکوکاتو، مهرو اوگویتو دلیکنو مطالعه اوکتنه سره له‌پورتنیو یادشویو رسم‌الخطو یوستر بحث تشکیلوی، او په مختلفو دورو کښی دهیواد دټولو گوښود اوسیدونکو پرادبی مذاق باندی‌زیاته رنا اچوی.

افغانستان دژبو دځانگه کېدلو اودغښونو (لهجو) دجلاوالی اودادبی مطا تبو دجوړیدو او دفکرونو دتماس او تصادم له کبله، اوپه پای کښی‌دادبی، ذوقی اوفرهنگی مظاهرو دتیټوالی له نقطه نظره دخیلو گاونډیو لکه دهند اوایران اوماوراءالنهر دخاورو په‌منځ کښی ځانته یومعین مقام لری، اوډېری رشتی دلته سره پتلیز اوبوڅای کیږی.

په پخوانو دورو کښی دافغانستان دادبیا تو دتاریخ بحثونه په (۹) جلاجلا برخو اومختلفو اقسامو کښی، چه‌په برخوویشل شوی اوجلا جلا عنوانونه لری لوستونکو ته ښودل کیږی:

او له بر خه: (هندو ارو پا ئی ژبه او په افغا نستان کښی دهغې خپرېدل اودهغې دځانگو دوام):

هندو اروپائی ژبه: په ۱۸۷٦ کښی دژبو پیژندلو په مطالعو کښی نوې در وازه پرانستله شوه او پوهان پوه شول

چه داروپائی اوهندی‌ژبو، لکه یونانی اولاتینی اوسانسکریت ژبی سره ورته اومشابهتونه اویو رنګوالی سره‌لری . اوترڅو مودې پوری دغه نیژدیکت یوالی دکلمو اولغاتو دیورنګوالی له‌مخې بلل کېدو . ترڅو چه مقایسوی صرف اونحو ( ګرامر کومپاره) ثابته کړه چه ددغو ژبو په صرفی او نحوی اصولو کښی هم زیات مشابهت اویو رنګوالی شته . په بل عبارت دغه ژبی په لیکنه کښی یوله‌بله مشابهت نه‌سره لری بلکه دهغو په قالب کښی مشابهت اویو رنګوالی سره شته . دژبو پیژندلو پوهان ددغه اساسی یورنګوالی او مشابهت علت له‌دالاندی‌شیبز ګونو علائقو څخه پریوه یا ندی لکه پرتجارت، مهاجرت، دخاوری ګاونډیتوب، مذهب اومسلك اودګډې مبدې پر تسلط یاندی بنابولی، چه‌له دغو شیانو څخه یو یاڅو شیان په دغه مشابهت اویو رنګوالی کښی د خیل دی . مګر دژبی له‌نقطه نظره داروپا اودهند دتعلقاتو اساسی علت یوالی همغه (ګډه مبده) ده . چه دهغې له‌مخې څر ګندیږی چه‌دسانکریت، زند، یونانی‌لاتینی، اسلاوی‌اونورو اروپائی او هندی ژبو ګړیدونکو یو وخت په یوه ځای کښی ژوند کاوه اوپه یوه ګډه ژبه سره ګړیدل، چه هغې ته د (ژبومور) یاپه وصفی اواصطلاحی‌صورت (هندو اروپائی) وایی. اوددغی‌ډلی سره جلاکېدل اوپرڅانګو یاندی ویشل کېدل ځې دهندو اروپائی له‌اصلی ډډا وتنی څخه دفرعی ژبو اوغږونو (لهجو) او کورنیو پیدا کېدو له کبله شوی دی .

پوهانوداصلی هندواروپائی‌ژبی دڅه رنګوالی ، دمعلومولو اوکشف دپاره له‌دوو مهمو شیانو څخه کاراخیستی اواخلی ځې، چه یودژبو دغږ دتغیراتو اوبدلون څه ډول توب دی اوبل ځې دصرف اونحو داصولو مقایسه ده لکه « دافعال و ګردان او داسما ؤ صرف اودکلمو اشتقاق اودسته بندې اونور داسی » . له‌دې ډول شیانو څخه ثابته شوې ده چه‌هره تاکل شوې ژبه چه دهندو اروپائی ژبی جزء ګڼږی دصوتی اصولواو دصرف اونحو له‌مخې په یوه پخوانیږ اولومړنیږ ژبه کښی پرې‌اصلی مبدء کښی‌یوله‌بله ګډون‌سره پیدا کوی. دغه‌پخوانیږ یالومړنیږژبه دهندو اروپائی ژبودپاره هغه‌نسبت‌لری لکه چه لاتینی ژبه‌ئی دورومن ژبوله‌پاره‌لری یائی سانسکریت دپراکریت دپاره لری په‌دې‌اساس دهندواروپائی ژبو ځانګی سانسکریت زند لاتینی یونانی، پښتواوپخوانیږ پارسی هره‌یوه ځانته‌داسی عواملو‌لری چه‌په‌یوډول له‌ډولوسره د لومړنیږ مورنیږهند واروپائی ژبی په‌نوی جوړ بدلو کښی مرسته کولای شی .

اوپه‌هره‌ژبه کښی دپردولغاتو ننوتل، په‌هره اندازه چه وی دهغې‌ماهیت اواصل‌ته‌تغیر نشی ورکولای خوپه‌دې شرط چه‌دغه ژبه‌اساسی صوتی‌اصول اوتینګ صرف او نحو ولری ،ځکه چه زغ صرف اونحو ، قالب اوکلمی د ژبی مواددی اوچه‌یوې‌ډلی دمختلفو علمی‌صلاحیتوخاونـدانو علما ؤ دیو هند اروپائی ملت په‌وجود قول کړی‌دی نودیوې‌مورنیږ هندواروپائی ژبی وجود اوپیدایښت هم‌له‌هغه‌سره ضرور اولازم دی سره له‌هغه هم که‌په حقیقت کښی ښه‌غور اوژوره کتنه‌وشی ، اسنادیوالی‌دومره ښکاره کوی چه‌په‌یوه ډېره پخوا زمانه کښی داسی قومونه وو چه‌خپله(نژاد) اومدنیت ئې سره جلاو ، خوصوتی اصول اوصرف اونحوئې‌سره یواوځینی لغتو نه ئې سره ګډوو، ځکه داښکاره خبره ده‌چه‌دژبی یووالی‌خامخادځینی او مدنیت یووالی‌نه‌غواړی خوپه‌هرحال دهندو اروپائی‌دکامو تاتو بی اوداوسېدنې ځای‌داسی یوه موضوع‌ده چه‌په دغه‌باره‌کښی نظریات ډول ډول اومختلف دی اومختلف ځایونه‌پیشنهاد شوی‌دی چه‌له هغې جملې څخه یوه‌هم دانظریه‌ده‌چه مونږ پخپل تاریخ کښی اخپستې‌ده چه‌هغه‌ځای هغه‌مځکی‌دی‌چه دسردریا اوآمو دریا دپورتنیږ سیمی (حوزی) په‌منځ کی پرتې‌دی اوزیات‌مورخینو اوژبه‌پوهان ددغی نظریې طرفداران دی‌اود« کوتچی» ژبوله کشف څخه وروسته‌دانظریه له‌سره نوې‌تقویه شوې‌ده په‌دې اساس نـن ورځ دې مفکورې عمومیت موندلی دی چه د(سنتم) دژبو ګړیدونکی اویوه برخه د(ستم) دژبو ګړیدونکی له‌مرکزی آسیاڅخه‌لیږدېدلی(کوچ) دی.بورال‌دغره دجنوب او دخزردبحیری دشمال له لاری دمغرب خواته ولاړل‌اویوه بله‌برخه قومونه‌چه‌ژبه‌ئی د(ستم)له کورنیږ څخه‌ده یعنی (هندوایرانی) قومونه داکسوس له‌شمالی خواڅخه دجنوب خواته ولیږدېدل سره‌له‌دې چه‌ددوی خپلوان سیتـی پاتورانی پوونده قومونه چه ددوی یوښاخ دی، یعنی تخاریان چه‌د(سنتم) دژبو له ګړیدونکوڅخه یوښاخ ګڼږی ځای پرځای پاته‌شول، اویوه‌لږه برخه‌ئې په‌دې نویو دورو کښی له‌دغه‌ځایه ولیږدېدل او زموږ دهیواد پـه شمال شرقی بـرخو کـښی میشت شول .

«بایدیوه یوچه په‌اول کښی دافغانستان په‌شمالی برخو کښی ددغوژبو دمبدې اومورپه‌ډول دباختراروپائی ژبومطالعوزیات طرفداران در لودل . »

آریائی یاهند وایرانی: دهندو اروپائی ژبودډلو له‌جملی څخه چه کومی‌ژبی زیات کـافی شواهد لری اوحتی خپل ادبی متنونه‌ئې هم‌باقی‌پرې اینی دی هغه‌یوه‌ډله ژبی دی‌چه په واقعی (آریائی)نامه یاپه ( هند وایـرانی)وصفی نوم شهـرت لـری کـه‌دلومړنـیږ اومورنیږ هندو اروپائی ژبه ګـړیدونـکی دقبل‌التاریخ په‌پردو کښی پټه‌دی، له‌هند و ایرانیږژبو دکورنیږ ګړیدونکی دتاریخی‌دورې په اول کښی دصحنې پرمخ ښکاره اوڅرګندیدی اوله هغی یوې ډلی قبا ئـلوڅخه عبارت دی‌چه

په(آریاناویجه) کښی یعنی (دآریانا پهمخکه کښی) دسر دریا اوآمو دریا په پورتنیر حوزه کښی اوسیدل اودهغو دگډ اومشترك ژوندون لمنی د آریانا یا افغانستان په شمالی برخو کښی‌دباختر په علاقو کښی هم دوام درلود. د آریائی یاهند وایرانی دقبائلو مشترك ژوندون اودهغو داوسیدنی ځای‌زموږ دهیواد په ادبی تاریخ کښی زیات اهمیت لری ، ځکه چه ددوی دغه گډژوندون دآریائی ژبی دتشکیل‌او جوړیدو عامل شویدی، چه‌لههغه‌څخه مشترکی هندی او مشترکی آریائی ژبی منځته راغلی‌دی . اودهغو ډیری پخوانیر ځانگی سانسکریت، ویدی، اواوستائی ژبی‌دی‌چه‌دژبی پیژندلو داوسنیو تحقیقاتو دشرائطو لهمخی پخپله هغوی دهندی او آریائی ژبود کورنیر مبده بللی‌شوی‌دی، اوهره یوه ځانله یولړ نوری‌ضمنی اوفرعی لهجی لری. په‌حقیقت کښی دغه ډلی هره یوه دیوی ځانته ژبی لهجی‌دی ،چه‌لهمشترك اصل څخه له جلاکیدو څخه وروسته ئی مستقل آوازموندلی وده اوترقی ئې کړی‌ده. بایدغورو کړوچه د(آریائی) یاهندوایرانی ژبوبووالی د(جرمنی)یا(ایتالوسلتی) ژبو دیووالی پهشان پوایجابی لسانی یووالی‌نه‌دی، بلکه یوه رښتیانیر اووقوعی جنبه‌لری ، اوډول‌ډول حقائق څرگندوی‌چه دهندی او ایرانی ژبو گډیدونکی دواړه په متقابله ژبو کښی خیل ځانونه د(آریا) په گډ نامه یادوی ، اوله همدغه کبله‌ئی آریائی‌هم ددوی مشترکه اوگډه ژبه بللې‌ده .

آریائی ژبه چه هندی او ایرانی کورنیو ویشله شوې ده دصوتی اصولو او صرف او نحو اولغاتو له‌نقطه نظره په‌پوره اندازه ساتلی شوی ده اودهغه په‌اساس ،دمثال په ډول سره په اسانی سره کیدای شی چه پخوا نیر او ستائی ژبه، اوزندی سانسکریت ته اویا و یدی سا نسکریت اوزند یا او ستائی ته واړوی .اودایوه لویه‌نبه ده چه‌دآریائی یا(هندو ایرانی) ژبو یووالی ثابتوی ، او دهند و اروپائی ژبو هیڅ ډله یا کورنیر داکیف‌نه‌لری ،ځکه چه دهغې په‌هیڅ‌یوه‌ډله کښی‌مرکبی‌ځانگی نه‌دی ساتلی شوی .

عمومی‌عقیده پردې‌ده چه‌په‌معینه زمانه کښی‌لکه‌د۱٤یا۱۵ق‌م پیړیر په‌خواشا کښی له فارسی اومدیا او سغدیان څخه نیولی ترپنجاب پوری په‌دی براخه سیمه کښی چه افغا نستان دهغې په منځنیر برخه کښی پروت دی ، آریائی ژبی عمومیت درلود او وگړی په گډبدل . وړاندی مو وویل چه دافغانستان شمالی یا شمال شرقی برخی‌دهغی ساحی برخه‌دی‌چه‌آریائی یاهندوایرانی قبیلو په گډه‌سره ژوندون پکښی کاوه ، اوچه په گډه ژوندون کول دگډې اومشترکی ژبی دتشکل اوجوړیدلو عامل دی‌نو طبعا او هر و مرو حکم کیدای شی چه د آریائی ژبی کانون داکسوس په دواړو خوا حوزه یا شمالی آریا نا کښی ؤ . او دهندی اوایرانی کورنیو دمتعدد و لهجو دبقایاوو لهمخی‌زیات گمان کیږی چه‌ددواړو کورنیو د مشترکی ژبی دکانون لمن دهندوکش دغرو ترڅانگو اوسلسلو پوری‌رسیدلی اوخپره وه.

هندو ایرانی آریانا ژبه پردوو ډلو یادووناکلیو کورنیو باندی ویشله شوی ده هندی کورنیر او ایرانی کورنیر ، اومشترکه هندی او مشترکه ایرانی د ژبی ددغو دوو کورنیو مبده وده .

اودشواهد و دنشتوالی له آمله دآریا ډپر پخوانی خاښونه یعنی سانسکریت‌ویدی او او ستائی ژبه لههغو څخه نمایندگی کوی دپورتنی تعریف او دو قوعی شواهدو لهمخی دغه دواړی ژبی په‌افغانستان کښی پیدا شوی اووده اوترقی یی کړې ده . اډپخوا ترهغه چه شرق اوغرب ،یعنی هنداوایران ته ورسیږی خیل‌لومړنی ادبی مراحل ئی دهندوکش په خواوشا کښی‌تپر کړی‌دی . له همدغه کبله دی‌چه ددغو دواړو کورنیو فرعی غبزونه اولهجی نه‌یواځی ترننه پوری دافغانستان په غرو کښی شته ، بلکه دځینو نظر یاتو له مخی (پښتو ژبه) د هغو دواړو مشترك ممیزات په داسی توگه سره په‌ځان کښی لری چه‌دژبی له‌پوهانو څخه ځینو پوهانو ، پښتو ددغو دووهندی او ایرانی کورنیو په‌منځ کښی یوه مستقله ژبه بللې‌ده .

ویدی سانسکریت : دهندی ژبو دکورنیر اصلی مبده ،

---

داسی یوه‌ژبه تشکیلوی چه مدققینو هغه‌په‌فرضی نامه (مشترکه هندی) بللې ده چه اوس دهغی نوهرگند اثر نشته او که وی همهغه پخوانیر هندی ده چه‌په‌بل عبارت ئې(ویدی‌سانسکریت) یا(وداژبه) بولی، اوسره له‌دې‌چه (ویدی) سرو دوژبه هم‌یوه ډله‌نه‌ده اود(هندواروپائی) ډپرصحیح یاډپر نیژدې مظهر یی بولی،اوداسی یوه‌ژبه‌ده چه دهومر داشعارولهژبی‌څخه اوداوستا له‌پخوانیو برخوخخه‌دلومړنیر مورنیر هندواروپائی ژبی کیف دهغې‌له‌مخی شبه‌پیدا کیدای‌شی، وروسته (کلاسیك سانسکریت) راځی اوهغه‌داسی ژبه ده چه‌په‌دریمه (ق،م) پیړیر کښی(اتکی) دصرف‌اونحو عالم ( پانی‌نی) دسرودله‌ژبی‌څخه دهغی‌دجلاکولو له امله هغه(بهشهBhasha)بللې ده کلاسیك بهشه‌ژبه پخوانیر هندی‌ویدی ژبی‌غوندی‌ده چه‌په‌یوه تاکلی‌موقع کښی ترقوانینو اوانضباط لاندی راغلې ده اوتر اوسه لا دویدی ژبی ترتاثیر لاندی ده .

منځنیر هندی، له کلاسیك سانسکریت‌څخه نه بلکه لههغی پرمبتیر هندی‌څخه‌جلاشوې‌ده که‌څه‌هم‌پوهان دهغې‌دخوگندیدو نسبت و(٦) ق‌م‌پیړیر ته‌کوی ، خوعروج او ترقی ئې‌دآشوکا په‌عصر کښی کړې ده اوپرین فرمانونه اودپالی ادبیات اودافغانستان دگندهار پراکریت اونور پراکریتونه لههغې څخه نمایندگی کوی ، وروسته له هغه نوې هندی چه له (اردو اوهندی) څخه عبارت ده راځی‌چه اردوداسلام اوعربو دنفوذ په

اثر له عربی اوفارسی ژبی سره گډه شوې ده او د فارسی اوعربی په رسم الخط لیکله کېږی اوهندی لـه داډول کلمو څخه خالی ده اوخپل نوی لغات ئې دسانسکریت له ژبـی څخه اخـیستی دی اود (دیوانا گاری) په رسم الخط لیکله کېږی .

زندیا اوستائی ژبه : دایرانی ژبو کورنۍ لکه دهندی ژبو کورنۍ غوندی په (ایرانی مشترك) فرضی نامه یوه مبدا لری چه ظاهرااوس دهغې کوم اثر نشته او که وی هم نو داو ستا دبرخی ډېره پخوانی ژبه یعنی (گاتونه) له هغی څخه نمایندگی کوی .

دایرانی ژبو کورنۍ معمولا پردوو اساسی ځا نګو باندی ویشله کېږی، پارسیك یاجنوب غربی ، اوغیر پارسیك یاشرقی ډله پارسیك پریولې ژبو باندی مشتمله ده چه ډېر پخوانی شکل ئی پخوانۍ فارسی هخامنشی ده ، اومنځنی شکل ئی پهلوی ساسانی ده چه دغه دواړی په ایران کښی د (پرسید) په ولایت کښی څرګندی شوی دی او (دری) ژبه چه جغرافیائی مبدائې افغانستان او ماوراء النهردی اوځانګړې ریښه لری پخپل ځای کښی به مفصل بحث ورڅخه وشی . دغیر پارسیك یاشرقی مبداء اوځانګه (زند) اویا اوستائی ژبه ده چه نه یوالحی ددغی ځانګی ډېر پخوانی مخصوص شکل دی بلکه لکه چه وموویل په عام مفهوم دایرانی ژبو په منځ کښی ددغی کورنۍ دژبو ډېره پخوانۍ زړه نمونه ګڼله کېږی اودهغی دځرګندېدو اوترقی ځای د افغانستان شمالی اوشمال شرقی برخی یعنی باختر اوپامیردی او ددغی ځانګی منځنی شکل معلوم نه دی اودهغې نوی شکلونه په یوه ژبه کښی نه بلکه په یوه ډله ژبو ګی شته چه دغلچۍ ډلی (دپامیر دژبو) په نامه اوداور مـرې اوپراچی اونورولهجو په نامه یادېـږی اولـږ وروسته به دافغانستان دنورو آریائی لهجو ترعنوان لاندی له هغو څخه لندبحث وکړو .

پښتو : په دې کښی شك نشته چه دپښتو ژبی مبداء په هندو آریائی اوهندوایرانی پوری تعلق نیسی خوتراوسه پوری په قطعی ډول سره نه ده فیصله شوې چه پښتو دهندی ژبی دکورنۍ جزء ده اوکه دایرانی ژبی دکورنۍ جزء دی ؟ اویادهندو آریائی اوهندو ایرانی ژبو په منځ کښی ځانته یوه مستقله څانګه ده .

ډاکتر (فریدریك بیولر) داسی نظریه لرله چه پښتودایرانی ژبوجزدی ډاکتر «ترومپ Trumpp» په دې عقیده وُ چه پښتو دایرانی ژبو جزء نه دی بلکه دهندو آریائی ژبو دکورنۍ جزء دی سره له دې توپیره چه دهندی کورنۍ حقیقی غړی نه دی بلـکه یومستقل شکل لـری اودهندو آریائی او هند وایرانـی کورنیو په منځ کښی دلومړنی تحول مثال دی، او په دې لحاظ ددغو دواړو کورنیو ممیزات لری، خوله پراکریتونو یعنی له هندی کورنۍ سره زیات شباهت اوبرابروالی لری او دانظریه د ډېرو پوهانو لکه د پروفیسر «فن سپیګل» اوډاکترهورنل اوډارمستټر له خوا منله شوې ده . خو منلی خبره داده چه پښتو ، سنسکریت او اوستا دآریك ژبی څخه راوتلی دی او پښتو ځانله مستقله اوشتمنه ژبه ده او هرراز اوزده تعبیرونه پری کېږی .

نوری آریائی لهجی: دژبو پوهانو دیوې اندازی مـطالعو له کبله چه تراوسه په افغانستان کښی شویدی څرګنده شوې ده چه دې هیواد په درو اوغرو کښی نیژدې دشلو نورو لهجو بقایا شته اولیدلی کېږی چه ځینی ئې لـکه (غلچه) ډ لـه یادپامیر او ارمـړی او پراچـی ژبـی دایـرانی کور نـۍ دشرقـی ځانـګی جـزء دی . اوځینـی ئې لـکه نور ستانی اوپشه ئی اوګـاتی او وایـګلی او اخشون او خو وار او پر سون ژبی په هند ی غبزو (لهجو) پوری اړه لری . اودشرقی هندوکش په په جنوب کښی اودهند په شمال غربی سیمو کښی یوه ډله نوري ژبی شته چه د ژبو په مطالعه کښی (وارد یك) یا (پشه چه ) د ډلی په نامه یادېږی ، اودهندی اوایرانی دواړو کورنیو ممیزات لری. ددې لنډو بیانولهمخی څرګندېږی چه دافغانستان غرونه یووخت دهندو ایرانی آریائی قبیلو کـانون اود او سید و ځای وُ . او سره له دې هلور زره کـلو نه تېر شوی دی بیاهم دونه عملی شواهد باقی پاته دی چه دغه نظریات په ټینګه سره ثابتوی.

دمخ کښی یادشو یوځینو لهجو نومونه اردرواج لځای یې په لاندی ډول سره دی : دپامیریا دغلچه ډلی لهجی له منجانی ، اشکاشمی ، زیباکی ، واخی ، شغنی ، رو شانی او نورو څخه عبارت دی، دغه لهجی دپامیر په مختلفودرو کښی رواج اوو ګړی خبری په کوی .

نورستانی ژبی دپورتنیو درو په مقابل کښی دهندو کش په جنوبی لمنو کښی رواج اوخلك پرې ګړېږی ، اوله ګـاتی، وایګلی اخشون ، پرسون ژبو څخه عبارت دی . ارمړی ژبه دلوګر په بر کی کښی اوپه وزیر ستان کښی دکـانې ګرام په سیمه کی رواج لری اوپه دې وختو کی په کـانې ګرام کی نسبتاً کمه شوې ده .

پشه ئی ،دنورستان په وایګل کی اودغرب خواته ترګـلبهار پوری رواج اوخلك په ګړېږی ، او مرکز ئې دکـټر اولغمان ددرو پورتنیو بر خی دی . اوپخپل منـځ کـښی څلور غبزونه (لهجی) لری .

۱ - د ( ګـلبهار اوشتل) شمال غربی لهجه .
۲ - داوزبین ددرې لهجه (دلغمان لویدیځ برالیشنګ)
۳ - دتګاب اونجراب لهجه .
٤ - دلغمان ، الینګار ، کنړ اوددیچ ددرې لهجه .

**دوهمه برخه:** (ویدی ادب تر کوم ځایه چه په افغانستان پورې اړه لري)

**عمومیات:** څرنګه چه په لمړی برخه کې وویل شو د سنسکریټ ژبه مخکښې له دې څخه چه په دې نامه باندې یاده شي ، یعنی د آریائیانو د سندرو لمړنۍ ژبه چه د هندواروپایی ژبو د پېرپخوانی مظهر شمېرل شوی دی، دهندو کش په شاو خوا کې یې وده کړې ده .

کله چه آریائیانو د آکسوس اواندوس (آمو اواباسیند) په ورښو ګانو کې ژوند کاوه دمعنوی ودې دو رې یې په کافی اندازه سره تېرې کړې وې اودمنورو طبقو فکری سویه یې دې حدته رسېدلې وه چه یې دخیل زړه الهامات اودعقیدی تخیلات دموزونو خبرو په قالب کې راوړل . دغه موزونې خبرې عبارت دهغه لړ اشعارو څخه دی چه (سندرې ) نومیږی اوهغه برخه یې له مینځه تللی مګر بله برخه یې سینه په سینه و ساتل شوه ترڅو چه لیک او کتابت لاندې راغلې .

پورته مواشاره و کړه چه د آریایی سندرو ژبه دهندواروپایی ژبو د پېر پخوانی مظهر دی،اوس دې ته متوجه کېږو چه دهندو اروپایی د پېر لرغونی (قدیم) ادبی مظهر یعنی آریایی سندرې لمړی پلا د شفاهی ادب په قالب کې د افغانستان دغرو په لمنو کې مینځ ته راغلی دی .

شفاهی ادبیات تر تحریری ادبیانو د پېر طبعی اولرغونی (قدیم) دی اود فطری قانون دحکم له مخې ویلی شو چه واړه بشری قومونو دغه مرحله لږ اوزیاته تېره کړې ده ، خو سره له دې یې هم په ټولو ځایونو کی دابتدائی مرحلې څخه تجاوز نه دی کړی او که یې تجاوز هم کړی وی نه دی ساتل شوی ، او په نتیجه کې یې زیات اثر نه دی پاتې ، نوځکه ویلای شو چه شفاهی ادبیات او په تیره بیا یی په پېړو په سینه او حافظه کې ساتل د آریائیانو داختصاصاتو څخه ، او که لږ څه په ځیر سره ووایو د آریائی قبائلو دمختصه ممیزاتو څخه دی چه زموږ په عرف کې یې دباختری کتلې په نامه زیاتره شهرت مونلی دی اودهندو کش له شاوخوا یې د لمړنۍ ودې اوظهور تاټوبی دی .

د کورنۍ پلرونو سم له هغه یوه زاړه کورنی عادت سره ، چه یې مذهبی جنبه هم دلحان دپاره غوره کړې وه ، د پېر زیات کوشش کاوه ترڅو چه خپل زامن دمعنوی میراث د میوې څخه مستفید کړی ، اودغه ښه رسم سبب شو چه آریایی سندرې څه ویدی اوهغه ګاتونه ، چه له هغو څخه په په دریمه برخه کې خبرې اترې و کړو ، خوندی او وساتل شی .

**ښکاره اوورکې سندرې :** واړه آریایی سندرې په دوو عنوانونو باندې یادوی چه هغه عبارت دی له : (ښکاره سندرو) او (ور کوسندرو) څخه، دغه طبقه بندی پخپله د ښکاره سندرو له مخې شوې ده . اودهغه له مخې معلومیږی چه پرته له هغو سندرو څخه چه موتر اوسه په لاس کې دی نورې سندرې هم وې چه زیاتره یې دژبې دقدامت په نسبت له خاطر اتو څخه محو شوې دی ،د ورکو سندرو موضوع د افغانستان د ادبیاتو په تاویخ کې د پېر زیات اهمیت لری ځکه څنګه چه به یې وروسته وو ینو څرنګه چه د د پېرو لرغونو معلومو سندرو د پیدا کیدو تاټوبی دهندو کش جنوب ؤ نو له دې ګبله کولای شوچه ور کې شوې سندرې زیاتره د آریاییانو داستو ګنې محصول په شمال دهندو کش کې و بولو او د پېر زیات احتمال لری چه د آریایی سندر وویل د آکسوس (آموسیند) په ورشو ګانو کې شروع شوی وی مستر «دیوت» پخپل اثر کې چه (د آریانیزیشن آف اندیا) یعنی آریایی کول دهند نومیږی له دې نظریې سره سم وایی چه پخوا د ویدی ددورې د سندرو څخه خامخانورې سندرې هم وی چه له بده مرغه ور کې شوی اولاس ته نه دی راغلې .

**ریشی:** آریائی سندرې چه معمولا د (ویدی ) سندرو په نامه یادیږی اولغوی اوادبی څېړنه به یې وروسته راشی د هغو شاعرانو ذوق اوقریحی محصول شمېرل کیږی چه د څینو آریایې کهولونو څخه را ولاړ شوی او معمولا یی (ریشی ) بلل د ریشی کلمې په ویدی عصر کې یوجامع مفهوم درلود او هغه چاته ویل کیده چه یې دخپل وخت ټولو متداوله پوهنو سره پېژند ګلوی لرله . لرغونو ریشی ګانو یا پوهانو د ټولنې په روحانی ، اجتماعی سیاسی،اوادبی ژوند کې مشری کوله اودخلکو په لارښود نه کې اخلاقی عالی مدارجو ته اودقومی روحیاتو په تقویه او د رسوماتو اوعنعناتو په ساتلو کې یې پوره اوښکاره برخه لرله ، اودخپلو صائبو افکارو عصاره یې دمهیجو اوجذابو اشعارو او سندرو په لفافه کې داسی خلکو ته تلقینول، چه وروسته له دریم زره کلونو څخه تراوسه هم پاتی اودبشر د پېرو ښکلو ادبی مظاهرو په قطار کې ځای لری ریشی ګان هغه شاعران ووچه یې شعرویل پیشه وه اوله همدې کبله یې د کورنیو څخه نیولی د پاچاهانو تر دربار ه پورې نفوذ لاره او په ټولو ځایونو کې ښه ا یسیدل اولمانځل کیدل او په ښتیابې د سنسکریټ ژبه، پخوا له دې څخه چه سانسګرت شی روانه اوادبی کړه اوداسی وده او پراختیایې ورکړه چه په وروستیو دورو کې یې نظیر نشو پیدا کولای ویدی سندرو له ښه مرغه د دغو ریشی ګانو څخه نارینه او څه ښځی زیاتره نومونه ساتلی دی اوله هغو څخه پوره ښکاری چه د آریائیانو نارینه وو اوښځو د ویدی په عصر کې ،د سندرو په ویلو او دامانت

اوادبی اومعنوی‌میراث په‌ساتلو کې زیار ویستلو او د کورنیو دمنورو خلکو زیار اوهڅه‌وه‌چه دغه‌ستره ادبی مجمو عه مینځ ته‌راغله اوپه‌زرو کالونو وساتل‌شوه .

رگ‌ـوید: آریایی ښکاره سندرې د(ویدی‌سندرو) یامحض ویدی (ودا) په نامه یادوی (ودا ) په اصل کښی د ( پوهې اومعرفت) معنالری اودقدامت او م ذهبی موضوعاتو لـه مخې په‌څلورومجموعو یا کتابونو ویشل شوی‌دی . چه یې ترټولو څخه لرغونی اومهم د(رگ‌ـودا) یعنی (سپیڅلی پوهې) په‌نامه یادیږی، اود ادبی مراتبو اوجغرافیایی اونیم تاریخی امثالو له‌مخې دهندو کش جنوبی ورشو گانو اومشرقی افغانستان سره ډیرزیات اړیکی‌لری .

«رگ‌ـوید» ۱۰۲۸ سندرې‌لری چه‌یې په‌عمومې ډول سره په‌لسو برخو اویا دویدی اصطـلاح سره سم په‌لس (ماندالا ) یعنی (دائره) ویشلی‌دی اوهـر یوه ته (دکورنـیو کتاب ) هم‌وایی ، کوم‌څه‌هم‌چه په‌عمومی‌ډول د(رگ‌ـوید) لس برخیزې سندرې ګډ خواص نه لری بیایې هم هغه شـپږ کتابونه چه عبارت دی له‌دوهم‌څخه‌تراوومه پوری څه‌نه‌څه ورته والی سره لری اودنورو برخومرکزی بسته ورکوی .

دسندرو داشعارو وزنونـه مختلـف او دمنظومو مصرعی ۸، ۱۱، ۱۲ سیلابه‌وی درگ‌ـوید خبرې تر یوې اندازې پورې مرموزې اوپیچیده اوخـاص اصطلاحات لری، نویی ځکه دبیان لطف اوبدیـع تشبیهات اوښکلی مثالونه او دخدایانو نومونه اودخبرو بدیع تخیلات ډیرښکلی اوله کیفه ډک کړی‌دی .

(رگ‌ـوید) په رښتیاهم په تنهایی سره دټول ویدی ادب عصاره‌ده ، ځکه دری کتابونه دریگ وید او پاتې ادبیات وروسته له‌ویدی عصرڅخه واړوله هغه څخه الهام اخستی دی اوډیر مطالب یې اقتباس کړی‌دی .

درگ‌ـوید دسندرو مجموعه په تنهایی سره د څوځو پیړیو محصول‌دی اونوې اوزړې برخې لری چه یې ژبه هم په هم‌هغه تناسب‌سره بدله شوې‌ده ، دنومورو سندرو په نوې برخه کې دعلت‌دتورو استعمال زیات شوی دی د (ل) توری په زیاړه ځایونه کی د(ر) ځای نیولی دی . وقف لږ شوی دی اوځینی لرغونی (قدیم) لغات له‌استعمال څخه لوېدلی دی در گ‌ـ وید دسندرو لرغونیر برخه چه‌زیاتره دافغانستان په خاتیـځ سیمو پورې‌اړه لـری د(شاندا) دعصر په‌نامه اونوې دورې یـې چه د(سندهو) دشرقی ځمکو په شاوخوا پورې اړه لری (مانترا) بلل کیږی درگ‌ـوید دعصر دتاریـخ تعیین د آراوو په اتـفاق ډیرزیات متباین اشکال اونظریات‌لری، په متو سط ډول سره یې ډیره قدیمه دوره چه د(شاندا) عصرده پخواله (۵۰۰) ق،م څخه‌بولی چه‌درې‌نیم‌زره کاله پخوا له‌نن څخه ده .

دویدی‌دری نور کتابونه عبارت‌دی د(سام وید) (یجروید) او(اتروید) څخه چه‌لومړی‌یې د آهنگ اونوا کتاب دوهم ئې دقربانیر اودعا گانو کتاب اودریم‌یې دطلسم او کوپو کتاب دی‌چه‌وروسته د آریائیانو دهجرت او استو گنې څخه د پنجاب په‌خاوره کې مینځ‌ته راغلی‌دی دژبی،مضمون او ادبی ملحوظاتو له‌مخې درگ‌ـوید او دغودرو کتابونو ترمینځ ډیرزیات‌توپیر موجوددی. دوخت له‌مخې ئې هم په متوسط ډول سره زرکاله فاصله په‌مینځ کې موجوده ده . وروسته له ویدی څخه ادبیات پر همانیان،یونانیشاویان ، سوترایان اونوردی چه‌دسانسکریت عصر حماسی ادب بلل کیږی، اودباندې زموږد هیواد د ادبی حوضی څخه‌مینځ ته‌راغلی‌دی .

دویدی سندروڅای : ویدی سندرې د ژبی له‌مخی اود شعر دفن له‌مخې‌دافغانستان د ادبیاتو دتاریخ مقد مه‌ده او ددی ادبی تاریخ تمهید په‌هغې سندره باندې شروع کیږی‌چه‌د هندواوروپایی له‌ډیرو لرغونو اواصیلو ژبو څخه انشا شوې‌ده ، واکوسندرو دمعلومو سندرو پیش‌آهنگ ، دهند وکش په‌شمالی سیمو کې دشاعرانو دقریحی په‌روزنه کې‌ډیره زیاته اغیزه لرله او سبب شولې چه‌ددغه غرونو د سلسلی په‌جنوب کې‌یوه نوی ادبی‌دوره شروع شی . په‌دې ترتیب دویدی ادبیاتو سیمه هغه خاورې دی چه‌لږ ترلږه له کـاپیسا څخه تر پنجاب پورې پرتی دی ، ددې مجموعې ډیره لرغونیر برخه یعنی دریگ وید سندرې‌او په‌تیره یې بیا قدیمې برخې دهندوکش اوسپین‌غره په‌درو او دافغانستان دمشرقی اوجنوبی برخی‌دسیندونو په‌ورشو گانو ( گندهارا) او ( پختیا ) کې ویل شوی دی اوپه‌دې اساس باندې ویلای شو چه دادبی روح تجدید او د ویدی آریایی سندرو انشأ دکابل ( کوبها ) گومل ( گوماتی ) کرم ( کرومو )سوات ( سواستو ) په درو کې مینځ ته راغلی دی او ددې سمسورو او شنوددو اوسپدونکو ریشی گانو د خپلو متقدمینو ادبی او عنعنوی خاطرات داسی نوی کړی دی چه دفکر روش ،دتخیل طرز ، د بیان اسلوب‌اودویلو شیوه یې دویدی عصر د آریائی ادب سرچشمه شوې ده اودزمان اومکـان په چوکاټ کې ترڅو څوپیړیو پورې اود پنجاب د شرقی برخو تر پایه پوری‌تعقیب شوی دی . نو له‌دې کـبله درگ‌ـویدلرغونې‌برخی چه‌په‌هغو کې په‌اغلب احتمال سره‌دهندوکش‌دشمال ځینی‌منظومی‌هم‌شاملې‌دی زیاتره دآریاناافغانستان‌دسخنورانو دسرشارې قریحی‌اولطیفې طبعې محصول دی چه ددرې نیم زره کاله پخوا په‌شاوخوا کې د هندو اروپایی ژبو په قدیمترینه ژبه یې خبر ې کولې . ددې ژبـې سندرې ر موز ډیر لر غو نی ادبی مظهـر او

ریشی گان یې زموږ دهیواد ډیر لرغونی شاعران دی. دغه ژبه اوادبیات زموږ دژبې اوادبیاتو منشأ په وروسته دورو کې ګډل شوی ده، اوله هم هغې لومړۍ زمانې څخه د افغانستان داوبو، خاورو اودقبائلو او کلیوالی پهلوانانو اوغرو نو او ورشو ګانو اوسیندونو په نو مونو باندې بنکلې دی.

د (کرومو) او (ګوماتی) دورشو ګانو دغرنیو نجو نو عشقی قیصی لکه دپروتی قصه دپکتهاوو (پښتنو) الیناګانو (نورستانی) ګندارپانو (دګمند هارا خلك) لکه دلو تبرو جنګ، دپاچاهانو کارنامې لکه: پکته، توروایانا، اوریګو دیوداسا، دغرنیو پهلوانانو اشارت، دګیاه سومسا تو لونه دمنجوان دغرونو په خوږونو کې، اوپه سلهاوو نورې سترې او کوچنۍ خاطرې هریوې درزم اوبزم دټولنو په ډول دویدی آریائیانو دافغانستان لوړوغرونو په لمنواوشنو ورشو ګانو کې ترسیموی. ریګ ویدیوه آینه ده چه په هغې کې دافغانستان دویدی قبائلو څېره سره له ټولوماديو اومعنوی ممیزاتو لیدلای شو. اوویلای شو چه دقبیلوی قوانینو حماسی قصی، عشقی جزبات دسلحشوری روح، اتن اوموسیقی اوهغه څه چه زموږ ملی اختصاصات تشکیلوی دهغوی مبدأ ویدی سندرې اودهغه عصر ذهنیت دی چه دهغوزره کلونو په تیریدو یې انعکاس زمونږ په قوی ژوند کې تل ترتله یوراز جلوه کوی اوشاعرانو، لیکوالو اوقیصه ویونکو موهمیشه ورڅخه الهام اخستی دی او آخلی یې.

## دریمه برخه اوستایی ادب اوژبه:

زندیا اوستایی: څنګه چه دویدی سندرو ژبه له (ګډې هندی) ژبې څخه نمایندګی کوی زندیا اوستایی ژبه هم د (ګډې ایرانی) ژبې لرغونی مظهر دی اوپه عین زمان کې دایرانی کورنۍ دشرقی څانګې مبدأ بلله کیږی اودپیدا کیدواوودې سیمه ئې دافغانستان شمالی اویالبز څه په خیرسره ووایو شمال شرقی برخی دی. ګډې اوستائی او ګډې هندی ژبې دسنسکریت، ویدی او، او ستایی دواړو ژبو سره ګډه مبدأ لرله چه ژب پوهانو هغه د هندو ایرانی په صفت یاده کړې ده.

اودآکسوس (دآمو سیند) په بره برخه یادآریانا په شرقی برخو کې یې رواج لاره. کوم شی چه دژب پوهنې اوادبی تحقیقاتو له مخې ددقت وړ دی هغه دادی چه ددواړو ژبو لومړی ادبی مراحل څه سنسکرت اوڅه زند په افغانستان کې مینځ ته راغلی اودهندو کش په دواړو خواوو کې تیرشوی دی، دویدی سندرو په مقابل کې چه پخوا وویل شو دزند په ژبه کې د «ګاتونو» په نامه منظومې لروچه یې ورته والی (شباهت) وویدی ژبې ته دکډې مبدأ اوویونکو دلیل دی، په شمالی افغانستان یا دآمو دریا ورشو ګانو کې، کوم شی چه دامطلب زیاتره تائید وی هم هغه زیات ورته والی دی چه دزند اوپښتو او زنداوډامیر دغلچه (غرځی) ژبو له ډلې سره یې لری اووایه یی نن په افغانستان کې معمولی اومروجی دی، اودهندوکش درې په لرلو دغلچه ژبې دډلی په شمالی کې، اونورستانی ډله په جنوب کې چه متقابلا دآریائی ژبی ځای نګې دی حتی نن هم د افغانستان مرکزیت دآریائی ژبی دکورنۍ په مقابل کې ښیی. زندیا اوستایی ژبه چه برته داوستا څخه بل اثر نشته پکښی، په هغو پیړیو کې چه (ویدی) ژبه کړپټې (غیرمأنوس) کېدله اودهجرت دوام یې عمومیت لټاوه، پرمخ تلله، او په اغلب ګمان یې په (۱۰۰۰-۵۰۰ ق.م) کې ترقی لرله اودمسیح دمهال دشروع په شاوخوا کې له مینځه ولاړه اوپه هیڅ ځای کې رواج نه وه.

اوستا: داوستا مطالعه دادب له مخې داسی ایجا بوی چه مخکښی له هرمطلب څخه د (ګاتونه) خبرې وشی، اماځنګه چه «ګاتونه» پرته دحاضره اوستایی کتابونو څخه دیوه کتاب دیوه فصل نه پرته څه نه دی نوپه لنډول سره داوستاکلمه دیوه لغت په توګه شرح کوو اوبیا وروسته دکتاب د برخونو مونه آخلو او وروسته بیاپه اصل مطلب باندې پیل کوو. داوستا کلمه په مختلفو متنونو کې د (اېستاك، او ستاك، او پستا، ابستا، افستا) په بڼه راغلې ده. اوپه بیلوبیلوشکلونو یې ترجمه کړې ده ډیره مهمه نظریه یې دپروفیسر (انډراس) ده چه دپهلوی (اوستا) یا (اوستاك) کلمه یې له (او پستا) څخه مشتقه بللې اواساس اوبنسټ اواصلی متن یې ترجمه کړې ده معمولا دزند کلمه هم په اوستاپوری نبلوی د(زند) دکلمې اصل له (ازاتی) څخه اشتقاق شوې اومعنایې شرح، بیان او ترجمه ده اوهغه پهلوی کتابونه وروپوري اړه لری چه لومړی پلا او ستاور باندې ترجمه شوی ده. (پازند) هغه شرحه ده چه داوستایی پهلوی کتابونو دپاره په دری ژبه کښل شوې ده، اوپازند (رااړولو، بیا را اړولو اودوهمې ترجمې) ته وایی. اوستا عبارت له دا کښته پنځو کتابونو اویا برخوڅخه ده: ۱- یسنا ۲- ویسپرد ۳- وندیداد ٤- یشتها ۵- خورده اوستا چه ورو سته به له هغې څخه خبرې وکړو.

ګاتونه: څرنګه چه مواشاره وکړه داوستا ډیره مهمه برخه دژبې اوادب له مخې ګاتونه دی چه د (یسنا) ۱۷ فصلونه داوستا لومړۍ برخه جوړوی، کوم چه رسترا واساسی توپیرچه یې (ګاتونه) داوستا دنورو برخو سره لری دادی چه: (ګاتونه) منظوم اونورې اوستا خپل شعری رنګ دلاسه ورکړی دی او دنثر بڼه یې دلحان دپاره غوره کړې ده.

داوستا تجزیه دنظم اونثر له مخې ډیر زیات دقت غواړی ځکه ځینی نظر یې شته چه: اصلا لومړنۍ او لرغونې اوستا لکه ویدی سندرې، ټوله منظومه وه اودسندرو په شیر ویل

کیدله، لکه چه همدغه نظریه تراوسه هم لږترلږه د اوستا دیوه کتاب په برخه کې صدق کوی .

ځکه برسیره پز (ګاتونو) داوستا څلورم تـوک یعنی (پنټونه) هم په اصل کښې منظوم‌وو دامـاشعری تـر کیب یـې دوروستی تفسیراوتصرفاتو پەواسطه، چەداوستامتن ګرځیدلی ، لەمینځه تللی دی . نولەدې کبله یې اوس هم زیا تره جمـلې دمسرې په‌بڼه دی اوزیاتره یې اتەسیلابی او څینې هـم (۱۰) او (۱۲) سیلابی دی چه که‌په آواز سره وویل‌شی ، بـاید چه ډیل‌یې دټولو حرکاتو پەمینځ کې وشی . برسیره پر دې یـې شاعرانه تخیلات اوبدیع افکارهم داصلی‌شعری پیرایې دلیل‌دی. په هرحـال (ګاتونه) داوستا یګانه پوره منظومه برخه ده .

دملك‌الشعرا بهار دنظریې لەمخې د (ګاتونه) لغوی معنی هم سندره ده، اودسندرې په صفت شهرت‌لری، د(ګاتونه) اصلی تلفظ (ګاث) دی چه په پهلوی کې (ګاس) شوی اوپه دری ژبه (ګاه) ګرزېدلی دی چه هم ظرف زمان اوهم ظرف‌مکان دی اوهم دموسیقی دآهنګ بەمعنی راغلی دی .

ګاتونه دټولو مدقیقینو دنظریې سره سم داوستاله ټو لو برخو څخه لرغونې برخه ده چه قدامت یې ژبه اودکلمو بڼه او دخبرو ترکیب ثابتوی اود (ډارمستټر) په عقیده یې زیاتره لغات پەعامیانه زندکې لەمینځه تللی دی اویوا زی ورته والی (شباهت) یې دهند په ډیره لرغونې یعنی ویدی ژبه کې پیدا کولای‌شو .

ګاتونه دافغانستان دادبیاتو پەلرغی تـار یخ کـې دژبې کلمو اوبیان لەمخې ډیرزیات اهمیت لری او یوه حلقه ده چـه ویدی ژبه اوادبیاتو دعمومی اوستایی زبی اوادب سره نښلوی اوښیی چه دویدریشی نیکونه اودګاتونو و یونکی په یـوه تاکلی مځکه کې چه عبارت وه د هندوکش دشمـال او جنوب دشاوخوا مځکو څخه یوځای اوسیدل او دزمانې تېر ېدلو او دوخت ایجاباتو بی دا اولاد پەژبه کې تحول را ووست .

اما سره دویدا اواوستا دنو مونو دتوپیره، هم لرې والـی نەسره لری اوپه لږ صرفی اونحوی اصولی مراعات او تلفـظ سره کولای شو چەدیوې منظومې پارچې دبلی پەشهر کړو .

ګاتونه مرکب اه‌پنځو منظومو څخه دی، هره منظومه‌یې ځانله فصلونه لری چەهغوی ته (ها) وایی ، هر (ها) په قطعو اومسریو ویشل شوی‌دی چه لومړی ته یې (وجس تشتی) یعنی (دشعر ټوټه، قطعه = پارکی) او دوهم ته‌یی (افسمن) وایی، ددی کلمې معنی مقیاس دی‌اوادبی مفهوم‌یې، یوځه کلمې‌دی چه له هغو څخه یوه مسرې جوړیږی . د(ګاتونو ) پنځه ګونې منظومې پەدالاندې ډول دی :

۱ - آهون ویتی، یادمولا سندره چه مرکبه‌ده له اوه (ها) څخه اوهره (ها) دعد دلەمخی مختلفې پارکی لـری اوهره مسرې ۱۶ سیلا بونه لری .

۲ - ګاتونه اشتاویتی، یاد سلامتی سندره چەمرکـبه له څلور (ها) څخه ده اودهرې (ها) مختلفی پارکی‌پنځه مسرې اوهره مسرې پنځه سیلابونه لری .

۳ـ ګاتونه‌سپنتامینویاد سپېڅې پوهې سندرې . دا(ګاتونه) څلور (ها) لری اومسرې یې یوولس‌سیلابی دی .

٤ - ګاتونه وهوخشتریا، یادښکلی مینې او قدرت سندره چه‌یوه(ها) لری اومسرې یې ١٤ سیلابی دی .

٥ - ګاتونه وهیشتوات یاد غوښتنې اوشتر سندره چه ۹ پارکی ده اوهره پارکی دوه مسرې لری دامسرې لنډې او، اوزدې‌دی‌لومړی‌یی۱۲سیلابونه‌اودوهمه‌یې۱۹سیلابونه‌لری.

همداډول ګاتونه ۲۳۸ پارکی او ۸۹٦ مسرې لـری . برسیره بردې ٤۰ پارکی یا ۱۲۰ مسرې نورې هم پەاوستا کې شته چه واړه یې اوستایې منظوم ادب‌جوړوی. د ګاتونو دسندرو موضوع مذهبی هدایات اولا رښودنې دی چه‌یې فهم داوستا ترنورو برخو ګران دی، . زیاتره لغات‌یې دلـر غونی کـتاب په‌پاتې برخو کې نه‌لیدل کېږی اوشاعرانه تخیلات یې جوړ (مرموز) کړی دی .

نوې اوزېره اوستا : د بهلو بهلو مدارکو لـه مخې داسـې ښکاری چه‌اصلی اولومړنی اوستا نرهغه اوستاچه‌نن مو پەلاس کې‌ده مفصله اوستره وه .

هرمیپوس (میلادی لومړی پېړی) یې دوه ملیونه شعرونه بولی . مسعودی (متوفی ٣٤٦هجری) یی په مروج الذهب کې (۱۰۱۲) ټوکه کتابونه شمیری چه دطلا پەاوبو لیکل‌شوی وو طبری داوستا لەمتن څخه د۱۲ زره دغوایی دپوستکو پر مخ خبرې کوی . لرغونی او ستاد باختری اوستا سـره دمختلفو هوادشو لەمخې لکه دسکندراخوډب اوسوبې (فتوحات) خبرې اوتیتې شوې داوستا ټوټو ټولول څه‌له خاطرو اوڅه‌له پا نـو څخه اوتدوین یې له (ولخش اول) پارتی ( دمسیحی لومړی پېړی ثلث) څخه شروع اود، اردشیر اولومړی شاپور تروخته پورې یی دوام لاره .اوهغه‌څه‌چه لاس‌ته راغله د لرغونې اوستا پەاصول‌پر برخو ویشل‌شو.دساسانی دوخت‌اوستا (وست West) انګلیس (۳٤٥۷۰۰) کلمې اټکل کړی‌دی او ورو سته دعربو دیرغل څخه یې زیاتې تر (۸۳۰۰۰) کلمو باقی نه دی پاتې . دپنځو کـتانو یااوستا دبرخو نوم‌ومڅکښې واخست . اوس یې فصلونه وښنه اودهریوه ومتن ګټې بیانوو .

۱ - یسناد اوستا ډیره مهمه برخه ده او(۷۲) فصلو نه یا (هایتی) لری، ګاتونه یې په مجموعی ډول سره ۱۷ فصلونه

جوړوی . (یسنا) چه اصلی تلفظ یې (یسن) دی د پرستش او لمانځنې (ستایش) په معنی راغلی دی اودمذهبی مراسمو په وخت کې لوستل کیدو .

۲ ـ ویسپرد : دیسنا دملحقاتو یوه مجموعه ده او ددینی مراسمو دپاره ترتیب شوې ده . واړه فصلونه یا (کرده) ګان یې په‌صحیح‌ډول سره‌نه‌دی معلوم او(۲۳) او(۲۱) یې شمیری .

۳ ـ وندیداد چه عمده مطالب یې مذهبی دی . او ۲۲ فصلونه لری، چه هریوه ته فرګرد وایی او لومړی فرګرد یې داوستایی‌خاورې دقطعواودمځکی دپیدا کیدو، او دوهم فرګرد یې دیما یاجمشیدله داستان څخه غبرپښی اودا دوه فصلونه کولای شو چه داوستا یا آریانا دعصر د آریانا نشین هیواد جغرافیایی اوتاریخی فصلونه وبولو .

٤ ـ یشت : دیشت لغوی مفهوم هم لمانځه ده او دیشتونو شمیر (۲۱) ته رسیږی . یشتونه څنګه چه یخواهم وویل شو دخیل اولی شکل په‌اصل کښې لکه ( ګاتونه ) منظوم وو . څنګه چه‌یې موضوع‌عموما داستانونه اودپهلوانانو او پاچاهانو دکارناموشرح‌ده نوله‌دې کبله‌دادب له‌مخې هغه (حماسی‌قصیدی ) بللی‌شو . یشتونه اوس هم لکه (ګاتونو) غوندې په پاړکیو ویشل شوی‌دی اوشعری ترکیب‌یې که‌څه‌هم چه کیږو شوی دی اماجملی ئې عموماً (۸) او (۱۲) سیلابی دی او دنظم پیرا یه یې بلکل دلاسه نه‌ده ورکړې .

۵ ـ وړوکی اوستا : یاخورده اوستا : یوه بالکل نوې مجموعه ده چه ددوهم ساسانی شاپور (۳۱۰ ـ ۳۷۹ میلادی ) په‌وخت کې د (آذرمهراسپند) له خوا داوستا دنورو بر خو له‌مخې انتخاب، تلخیص اوتدوین شوی اردروڼی عبادت او مذهبی لخترونو مخصوص دوعاوی دی .

اوستا اوحماسی‌ادب : نه ورڼې چه‌دادبی اوتاریخی تتبعاتو

---

اوپلټنو په‌شق کې دمتلونو، کیسو، داستانونو او لغاتو د پرتله کولو (مقایس) اصول مینځ ته راغلی دی داعقیده څرګنده شوې ده چه دهندو اروپا یی‌اولسو نو روایات او داستانو نه څه رزمی او څه غیررزمی، غوندې یوه ګډه مبدأ لری چه‌لومړی مراتب‌بې بایددنوموړی قوم په‌ماقبل‌التاریخ ژوندانه کې وپلټو البته‌دداستانونو پرتله کول دهندواروپایی مهاجرینو دڼانګو په‌مینځ کې ڼانته‌نسبت‌لری چه دقومونو دمهاجرت‌دعصر دداستانونو اوتاریخ له‌اصلی‌ظهورسره توپیرلری .

په‌هندو اروپائی قومونو کې څنګه چه دهندو ایرانی ډلی دژبی اوادبیاتو اثرزیات پاتې دی روایات ، زاړه داستانونه عنعنوی اساطیر او کیسې‌هم دهمدې کورنۍ په‌ژبه او مذهبی کتابونو کې چه‌منشاپې دلویې پښتو نڅوا خاوره‌ده پوره ساتل شوی اوپاتې‌دی سنسکریت‌یولړ داستانونه اری‌چه له‌میتولوجی (دارباب انواع کیسې)څخه نیولې رزمې کیسو او افسانو ته‌رسیږی اوستاهم‌په‌یوه زیاته پیمانه له‌یولړ داستانونواوکیسو څخه‌ډکه‌ده مګرداستانی روایتونه‌یې دویدی کیسوسره ، سره له‌دې‌هم چه‌یې‌دیوشمیر منشا یوه‌ده ،پیر زیات توپیرلری .

لومړی: داوستاداستانونه زیاتره میتولوژی بڼه‌لری : اوپه اوستاکې بشری پهلوانان ډګرته راوتلی‌دی .

دوهم: اوستایی‌داستانونه عموما تسلسل‌لری او ویدی کیسې لرنې‌یې اوتیتی‌دی .

دریم: اوستایی داستانونو ڼانته ملی بڼه غوره کړې ده اودزور قدرت آئین‌اوآریایی‌خاوری تفوق پکښې لیدل کیږی .

څلورم: اوستایی‌داستانونو حماسی اورزمی بڼه غوره کړی ده‌چه ددې‌روح سرچشمه‌هم‌هغه مذهبی معتقدات دی چه د اوستا پیروان‌یې دهرډول مادی‌معنوی، محیطی‌اوآفاقی مشکلاتو دپاره تیارکړیؤ داوستا داستان ویلوممیزه کړنې همداډول رزمی اوحماسی‌دی چه‌تاثیریی‌زموږ دهیواد په ادبی دورو کې تل‌لیدل کیږی داوستا دپنځو برخودجملی‌څخه‌پرته دوړه کې اوستاڼخه چه یونوی‌شی اوددعاؤاولمانځه مصحف‌دی اودینسپر دچه‌زیاتره دمذهبی ښودنو جنبه لری ،باقی نور دړې مهم ټو کونه یعنی (وندیداد) اویشتونه او(یسنا) سره له‌نقله دداستانی روایاتو اوپاچاهانو اوپهلوانانو دنومو اوجنګی صحنو ر نګینې رزمی کیسی‌دی ینبتونه نسبت‌ونورو دوو کتابونوته دعنعنوی روایاتو په‌شوخ کې شتمن دی اوکولی شو چه هغه ډرزمې داستانونو یولړحکایات یاپه‌ښه‌ډولی سره ووایو ، یولړ حماسی قصیدې وبولو اوځنګه چه‌مووویل په‌اصل کښې د شعر په قالب کې هم ویل‌شوی وې له‌دغې جملې څخه (۲۱) لاندې یشتونه د داستانی روایاتو له‌مخې زیاتره دملاحظې وړدی .

ابان‌یشت(۵یشت )،تیریشت (۸یشت) ګوش یشت ( ۹یشت) فروردین یشت (۱۳)یشت رشن‌یشت (۱۲ یشت) رام یشت (۱۵ یشت) زمیاد یشت (۱۹یشت) اردیشت (۱۷یشت) .

پورته‌مووویل چه‌داوستا داستانونه مسلسل اوملی ارمحلی رنګ‌لری، نویې‌له‌دې کبله‌روایتونو دنیمګړی تاریخ بڼه‌ډڼان دپاره غوره کړې‌ده او دآکسوس (دآموسیند) اندوس اباسیند اوهامون‌سیستان‌ترمینځ‌دآریا اوسیدونکو دهیواد یعنی‌دلرغونې آریانا داستانی‌تاریخ باندې ورسره شروع کیږی اوستا دخپل نیم‌تاریخی اوحماسی‌ادب له‌مخې د افغانستان په تاریخ کې ډیر زیات اهمیت لری اوروایتونه اودپادشاهانو اوپهلوانانونومونه اوددوی جنګی کارنامې چه‌زیاتره ددې جنګونو دآمو دسیند ددواړو خواوو د آریانانو اوتوریانانو ترمینځه‌دی دهیواد په‌ټولوادبی دورو کې او دهم‌هغه عصر په‌مقابله‌ژبو کې څه‌ساسانی پهلوی څه‌پارتی‌پهلوی، څه‌سغدی، اوڅه دری ډیره زیاته اغیزه

لری اودحماسی‌روح شدت‌پې په‌ورو ورو زیات شوی دی ترڅو چه‌په‌دریمه اوشلورمه‌هجری پیړۍ کې‌خراسانی‌شهنامه ایکونکو خپل حماسی‌شهکارونه به بلخ،طوس اوغزنې کې د ګرته راوښکل .

دځایونو دنو مونو منشا اویادونه : دافغانستان د محلی نومونودمطالعې‌څخه مطلب‌څه‌په‌ویدی سندرو کې اوخه د اوستا په‌برخو کې چه دلته‌څومخونه‌ورته وتف‌شوی‌دی‌دهغوادبی نومونو دمنشالنده مطالعه‌ده‌چه په‌دا دریې‌نیم‌زره کاله‌پې دوام کړی دی اوستادارضی مطالعاتو له مخې دآریائیانو دښکلې ځمکی اودخپلوپیروانو دتاټوبی ،چه‌حدودیې د پخوانیو آریانا اوننی افغانستان‌سره بالکل منطبق کیږی په ښودنې(معرفی ) ته ډیر زیات اهمیت‌ور کړی دی اوپه دې خاوره کې دغرونو د څوکو اوسلسلو، سیندونو، نهرونو ، دپهلوانانو د قربانیو دتاټوبو ددوی د کړو وړودصحنو اوطبیعی او معنوی ممیزاتوسره پېژند ګلوی‌لری اومطالعه‌یې‌برسیره پرتاریخی ،جغرافیایی اوسیاسی ګټو دزیانونه کلماتو رڼې ښکاره او ددې زړې خاورې قدامت‌معرفی کوی (وندیداد) او(یشتونه) یعنی‌داوستا(۳)او(٤) برخې‌څنګه‌چه دداستانی روایاتو له‌مخې مهم دی د محلی خاصو نومونو په‌یادونه کې‌هم ډیرزیات اهمیت‌لری دوندیداد لومړی فر ردپه‌لاندې‌ډول اوستایی ۱٦ قطعی ښکلی دآریائیانو دهیواد یا آریانا مخکه تصویروی چه افغانستان تماما پکښی داخل‌دی زمیادیشت اوهوم‌یشت بالعموم ددې ښکلی مخکی له سیندونو اوغرونوڅخه خبرې کوی داوستا په دې برخو کې ډیر زیات اعلام‌اوخاص نومونه‌یاد شوی دی چه‌دلته یې بې داوستا دمتونو دترتیب دمراتبو اوځای‌تاکلوڅخه ځینی مشهور اومهم نومونه‌دمثال په‌توګه یادوو.

بخدی، په‌ویدی سندووکې د (بهلیکه) په نوم یادشوی دی اوپه پهلوی ادبیاتو کې (بخل) شوی دی او په دری ژبه کې (بلخ)دی دمرواومرو اومرغاب په‌جغرافیائی مفهوم کې‌دمرغاب حوزه شامله‌ده مرغاب په‌اصل کښې (مروآب) یعنی (دمرواوبه) یا(دموارواوبه)ؤ او د(مرو) تلفظ د(مور) په‌صورت او(موری) صفت اوستایې‌بڼې‌ته نژدې‌دی .

هری‌اوهری: ( د ـ ه په فتحه اود ـ د ـ په کسره) یا هری (د ـ ه په کسره ارد ـ د ـ په فتحه) اوس هم معمول اومتداول دی اماځرنګه‌چه په‌اصل کښی له‌هغه‌څخه منظور دسیندحوزه ده نوبې اوستایی ریښه تراوسه‌هم په (هری‌رود) کې پاتې ده هرات هم له‌همدې کلمې‌څخه جوړشوی‌دی اود (هری) ښاریې هم بولی اود(هروی) صفت لکه ( دوری) ددې کلمې اصل اوستایی بڼې‌ته نژدې‌دی .

هرا ویتی : سواسویتی‌ویدی‌چه‌یی(س) دزنداو ویدی‌ژبی دزغ پوهنې‌سره سم‌په(ه) بدل شوی اوعبارت دارغنداب اودهغه دحوزی‌څخه‌دی ،په‌اوسنی نامه کې یې‌برته د(آب)څخه‌د(ارغند) کلمه لیدله کیږی چه‌تیز، خشمګین اوتندرو معنی‌لری . هیتو منتا په‌بنداهش کې‌په‌پهلوی‌ژبه دهتومندپه‌بڼه راغلی‌دی ،اوهیرمند اوهلمندیې اوسنی شکلونه دی .

یوپائی‌ری‌سنا: یادعقاب دالوتنې‌څخه‌لوړغریعنی دهندوکش سلسله‌دا کلمه مرکب‌ده له‌درې برخو څخه (یوپا) یعنی پورته (ئی‌ری) طرف (سنا) د (مرغوسنا) مخفف یعنی سیمرغ چه یې معمولا شاهین اویا عقاب ترجمه کوی ددې برخو ګډه معنی (دشاهین له الوتنې نه پورته) کیږی ، اود جغرافیائی خاص نامه په حیث دآریانا دیولړ لوړو غرونو یا هندوکش په برخه کې استعمالیدو . د اوستا تسمیې په بنداهش کې په پهلوی‌ژبه د « اپاراسین » بڼه دڅان غوره کړې ده ، (اپار) هم هغه اوستایی یوپاردی چه په‌درې ژبه کې ( پار )شوی دی او ماوراء ( هغه خوا ) معنا ورکوی او (سین) هم هغه د(سنا) کلمه ده . ( اپاراسین ) دادبی ترکیب له‌مخې ،په‌پهلوی ژبه کې زیاتره متمرکز شوی‌دی اما ادبی مفهوم‌یې توپیر نه‌دی کړی.

سپیته گوناگیری : دسپین‌غر او ستایی شکل دی د افغانستان په‌خاتیځ برخو کې د ( ګندهارا ) او ( بختیا) د ولایتونو ترمینځ واقع شوی‌دی، دانوم هم درې برخې لری ( سپیته) یعنی سپین ( گونا ) یعنی ( گونه ) ، گیری یعنی (غر) چه پښتو کې اوس هم د ( کوه) په معنادی ، سپیته گو نا گیر ی ( سپین گونه‌غر ) معنی لری او پښتویې د(سپین‌غر)په‌تسمیه کې اوستایی ته‌نژدې تلفظ ساتلی دی .

سیامکه : په بنداهش کې (سیاك اومند ) شوی دی اوعبارت د ( تور غره ) څخه‌دی چه دهریرود حوزی شمال‌شرقی‌خواته پروت دی .

وفر یانت : په بنداهش او پهلوی ژ به کې ( وفار اومند ) راغلی‌دی او معنایې د ( واورې‌غر ) دی . په‌پښتو کې (واوره) د (برف) معنالری ، اوځرنګه چه دواورې غر د (تورغره ) په مقابل کې راغلی دی اود بنداهش د متن له مخې دواړه د ( اپارسین ) یعنی هندوکش له سلسلې څخه جلا شوی دی ، مقصد له ( دواورې غر ) څخه سپین غردی چه تراوسه په‌همدې نامه یادیږی .

پورانا : پروان چه داوستا په متن کې دکوتل په‌مفهوم اومعبر اودرې استعمال شوی دی ، په‌داسی حال کې چه‌یې ځینی‌حروف منقلب شوی‌دی ، تراوسه په همدې معنا موجوددی . اوز مونږ

په حکومتی تشکیلاتو کې په همدې تاریخی نوم باندې مسمی شوی دی .

ستیر اوتیرا : لحینی مدققین په دې نظر یه دی چه ( ستیرا ) عبارت دی د(تیرا) څخه اوددې علاقې په خورا لوړ غره باندې دلالت کوی ، لحکه په لسمه سینا کې د (ستیرا دستار اوسارا ) راغلی دی اوداسی معنا ورکوی ، ( ستیر غرچه سریې په غره لـگیږی ) په زمیاد یشت کې د غرونو په قطار کې یو غر د( تیرا ) په نامه هم یاد شوی .

ار یا ناویجه : د آمـو دسیند اودسر دریـا بره حـوزه اود اوستایی بنکلې خاورې لومړی قطعه ده . دانوم مرکب دی له ( ایریا ) یعنی (آریایی ) ، (ن) نسبتی توری ( حرف) دی ( ویجه ) چه مسکن او تخمگاه معنی لری . ورو ستیر کلمې ( ویجه ) دقندهار په پښتو کې تراوسه هم خپل مفهوم نه دی ورک کړی .

دائیتا : د آمو رودخـانه ده . دارود خانه د ( ایریا ناویجه ) سره یوځای په اوستا کې ذکر شوې ده : ددې کلمې ریښه (دات) ده چه د( داد ) عدل اوقانون معناورکوی اود اوستایی آیین قوانینو ته اشاره کوی ، چه یې ترشـ ه په باختر کې مینځ ته راغلی دی . په پهلوی کې ( دائیتیك ) یا (دائیتی) شوی په لحینی وختونو کښی د ( ونـگوئی) صنعت هم ورپورې تړل شوی دی چه د(وه) ، (به) اونیك) په معنی دی او پردې اساس څنگه چه پور داؤد په لومړی ټوك دسینا کې شرح ورکړې ده . د آمو سیند په منځنیو پیړیو کې په پهلوی کتابونو کې د (وه روت) ( وبهروت ) په نامه یادشوی دی .

څلورمه برخه :

دلیك د پیدا کیدلو مبداء او متداوله پولونه یې په افغانستان کې:

لیك چه ژوندانه د بدلون په سیر او تحول کې دتاریخی عصر مبداء شمیرله کیږی ، په حقیقت کې دنړۍ زیاتره ژ لسونو دادبی تاریخ منشأ هم دی، لحکه شفاهی ادبیاتو په ټولو قومونو کې عمومیت نه لاره او که یې څه نه څه لاره هم په ټولو لحایونو کې نه ده ساتله شوی .

دلیك پیل دهغو انسانانو په مخیله کې چه یې په غارونو کې هستو ګـنه لرله یوازی د آشیاوو درسم په ډول شروع شوی اوبشری لو مړیو لیکوالو په هره ژبه چه یې خبرې کولې خپل خیال د آشیاوو په نقش پخپل نظر کې مجسماؤ او پوهاؤئی دې ډول لیکلوته نقشی یاتصویری لیك وایی اولرغونی مصری هیرو غلیف یې ډیره ښه نمونه ده اوله ۱۹۲۶ نه یې را په دې خوا دافغانستان په سرحدی څنډو کې دسند په حوزه کې هم نظیر کشف شوی دی .

وروسته بیالیك بلی مرحلې ته داخل شو چه هغه ته علامتی خط یا (ایدا اوګرام Ideagrammi) وایی. په دې ترڅ کې دمعنی اوذات هراسم لحانته علامه لرله اودشی دشکل په بدل یې مخصوصه علامه په کار اچوله . په لحینې لحایونو کې زغ هم د لیك په پیدا کیدلو کې دخالت لاره او په صوتی مرحله کې یې هر توری یاشکل دویونکی دزغ نمایندګی کوله :

وروسته له دې مرحلو څخه خط الفبا یی شکل دلحان دپاره غوره کړ، په هغه کې هر توري لحانته مخرج لری ، که زغ لرونکی وی او که نه زغ لرونکی، په دې اصول کې دتـورو دګـډولو اوترکیب څخه لغات او کلمی جوړیږی او پرته له دې چه لیکونکی دشیانو رسم یادشیانو لپاره دنښې اینښودلو ته اړوی او په زرونو اشکال په یادکړی یوازی په دیرشو یا څلویښتو تـوریو دخیلې ژبې ټول لغات لیکلی شی.

دخط داصل ایجاد په باره کې په نړۍ کې عقیدې مختلفې دی خوسره له دې هم وایی چه خط دسومریانو دایجاداتو څخه دی او په کوزبین النهرین کې اختراع شوی دی اوفنیقیانو، کلدا نیانو او آثوریانو یکښې اصلاحات وکړل .

فینیقی خط دپخوانۍ نړۍ دالفبا ډیرلرغونی او تر ټولو څخه آسانه لیك دی اوزیاتره مهم خطونه لکه آرامی ، عبری، سریانی، یونانی، لاتینی سنسکریتی، پهلوی اوعربی له همدې څخه راوتلی دی. لنډه داچه آریایی نژاد ملتونه د رسم الخط دایجاد په اصل کې دسامیانو مقلد بلل کیږی . اوداشی زیاتره دهغوی د مدنیت پر قدامت پورې اړه لری . او یانیان چه له (آریانا ویجه) څخه دهندوکش په دواړو خواوو، او له دې لحایه په مدیا، هنداوپارس کې خپاره شوی دی او دآریایی ادب او تهذیب نمایندګان په آسیا کې ګـډل کیږی ، او یادیو نانی آریائیانو ډله چه په اروپا کې یې ډیره زیاته ادبی اومدنی اغیزه کړی ده، دواړو پخوادخط له پیدا کولو څخه دشفاهی ادب اوزده دوره تېره کړی ده چه سامی ملتونه دانه لری. ویدی اولرغونی باختری اواوستایی سنسکریتی دواړه په سینو کې ساتل کېدلې او سره له هغو یادونو چه پهلوپهلو منابعو داوستا دمتونو نودلیك څخه کړی دی، هیڅاسره یې هم عجالتاً درسم الخط دتاکلو توان نشته، حماسی داستا نونه چه مرکزیې تل افـغانستان ؤ دخـط پیدا ښت اوتورید (دیوانو) ته نسبت ور کوی، کوم وخت چـه پیشد ادیانو په بلخ کې سلطنت کاوه زیاتره بیګانګان اودښمنان منجمله سامیان تردې کلمې لاندې راتلل ، دغه افسانوی اشاره دتحقیقاتی حقائقو سره ښیی چه الفبا یی رسم الخط نه سامیانو څخه میدیا، فارس او هندته رسیدلی اوله دې لحایه افغانستان ته راغلی دی. که څه هم سومریانو چه دبین النهرین په جنوب یادننی

عراق په‌جنوب کې‌یې ژوند کاوه، له‌ډیرو پخوا زمانوڅخه خط پېژانده‌اما پیدا کیدل‌یې په‌دوی کې د۳۵۰۰ ق،م په‌شاوخوا کې ګڼې، اودهغه‌ورته والی له‌مخې چه‌یې د (مینځ) سره‌لری نویی میخی الفبا بولی .

دې الفبا هم علامتی اونقشی مرحلې تېرې کړی‌دی او څنګه چه وویل شول‌دفینیقیانو، کلدانیانو اوآشوریانو په‌لاس‌اصلاح شوې دی،دااصلاح شوی‌خط‌چه معمولا دآرامی په‌نامه یادیږی له یوې خوانه په‌نژدې خاتیځ (شرق) په‌ایران افغانستان او هندکې خپورشو، اوله‌بلی‌خوانه لاتینی‌اویونانی خطونه ورڅخه راووتل آرامی رسم‌الخط په‌هندکې دبحرله لارې اویاآرامی ، یافنیقی یاهندی ملاحانو له خوا د۷ - ۸ قبل‌المیلاد پیړۍ په شاوخوا کې خپورشو . همدې وخت ته نژدې په مدیا وپرسې په پارس کی هم خپورشو . اودخپریدلو عامل‌یې هلته پر ماد یانو او پارسیانو باندې دآشوریانو سیاسی سلطه وه . ماد یانو اوپارسی هخامنشیانو وروسته‌دخپلواکۍ د اخستلو اوخپلواکو اوسترو سلطنتونو دجوړلوڅخه ددې خط د تکمیل دپاره ډېر زیات زیارو کښې،اودخپلو آریائی ژبو د پاره یې برسیره پرمخصوصو سامی آثوری شکلونو، نوی‌توری ( حروف ) هم اختراع کړل . په‌افغانستان کی د آرامی رسم الخط خپرونه یادهندیا ایران اویاله دواړو خواوو څخه شوې ده . اوزیاتره دا احتمال لری‌چه دهخامنشیانو دوخت د منشیانو په واسطه چه زیاتره یی یهودی ، آرامی یا آثوری وو، اوپه مالیاتی دفاترو کی یی کارکاوه، خپورشوی‌وی . لکه چه دهند اوایران په‌خاورو کی دآرامی خط لحینی نمونی کشف شوی‌دی ، همدغسی په‌افغانستان کی هم‌لحینی کتیبی یی شته‌دی، او ډېره مهمه یی دکابل دموزې کتیبه ده چه پریوې مثلث مانندی ډبرې کښل شوې‌ده، اودپیدایښت‌دلحای‌له‌مخې په‌اروروپایی علمی ټولنو کې د(دروتردکتیبې) په نامه شهرت‌لری .موسیو(برکلاند ) ددې کتیبې‌په‌باره کې یوه‌مقاله‌په(اکتا اوریانتالیا) Actaorientalia کې خپره کړې ده .

دنومورې کتیبې ژبه‌سامی‌ده‌اوهرنګوالی یې‌تراوسه‌پورې‌نه‌دی څرګندشوی.موسیو(دیوپون‌سومر A . Dupont soomer ) دسیر یاپه‌مجله کې ددرونټې د کتیبې الفبا دهغې کتیبې سره چه د«سوان Seuan» ( ارمنستان) اوتاګزیلاد شاو خوا څخه پیدا شوې‌ده په یوه تابلو کې پرتله کړې ده .

ددرونټی اوتاګزیلاد کتیبو دتوریو شکلونه‌څه زیات توپیر سره نلری . دمیخی رسم‌الخط اثر، څه مادی اوڅه هخامنشی ، تراوسه پورې په افغانستان کې نه دی لیدل شوی ، بله کتیبه دازو په‌تنګی کې (دشهرك دشمال‌غربی په۱۶ کیلو متری کې ) شته‌ده، ولې تراوسه یې بنه د آرامی اویهودی ترمینځه نه ده تاکل شوی .

خروشتی : آرامی رسم‌الخط چه مویې نمونه هم وښو دله بنایی چه دهخامنشی دفتریانو او منشیانو په واسطه، چه‌په‌اصل کښې آرامی وو ، په افغانستان کې معمول شوی وی او څه موده یې رواج درلود . مدققین داسی تصور کوی چه قومی رئیسانو اودفتردارانووروسته دآرامی‌رسم‌الخط دپېژندګلوی‌څخه، لږلږ بدلون پکښې‌را ؤوست، په‌نتیجه کې ورو سته ددې بدلون څخه خروشتی رسم‌الخط مینځ ته‌راغی . څرنګه چه دخروشتی رسم‌الخط مبدأ افغانستان ؤ. اولومړی پلایې شواهد همدلته‌ولیدل‌شول،نویې‌په‌علمی‌ټولنو کې دآریانی ،آریانوپالی، باختروپالی ، باختره هندی ، ګنده هاری شمال غربی، خروشتی اولیپی په‌نامه‌شهرت ومونده.اونن ټول‌هغه د (خروشتی) اوګنده‌هاری په‌صفت ډېرښه پېژنې . خروشتی رسم الخط لکه آرامی خط ، له‌ښی‌څوا خوانه چپې ته لیکل کیدو د علت دحروفو اصول یې لحینې‌نواقص لرل. د خروشتی استعمال‌دعلمی متونو په‌لیکلو،بلکه زیاتره په‌دیوان او دفتر اوکسبیانو ، سوداګرانو اوامیانو کې رواج در لود . داکلمه باید مغفنه دعامی ونه بلل‌شی بلیکه دپښتو داومه، دخام په معنی، دریښی څخه‌دی (مترجم)نوله‌دې کبله دمزاروونو په‌لوخو، دقبرونودلیك یښو اواوقافو دپاره استعمالیدو. دهغو پلټنو له‌مخې چه‌شوې‌دی خروشتی خط زیاتره دآریانا ، یاافغانستان په‌جنوب شرقی کې معمول اود، ودې اولنبسباط مرکزیې ګنده‌اراؤ، نویې له‌دې کبله شواهد، څه‌په‌جنوب‌اوڅه‌په‌شمال دهندوکش کې له‌استوپو وقفګاهونو اودبګرام اوهډې دبودائی معابدو او جلال آباد، بلخ، بامیانو او، وردګو څخه پیداشوی‌دی. خروشتی ددریمې ق،م پیړۍ په‌مینځ کې پیداشوی اوترمسیحی (٤) او (٥)پیړۍ پورې یی له ۷ څخه تر۸ سوه کلو نو پوری دوام کړیدی .

لومړنی سړی چه‌یې په مسکوکاتو کې استعمال کړ (دمتریوس) یونانو باختری پاچادی . چه‌دخپلو مسکوکاتو په‌یوه‌خواکې یې یونانی رسم‌الخط اړخ‌یې ته اوپه بله‌خواکې یې پراکریت‌یوې لهجې‌ته، چه په جنوب دهندوکش کې معموله وه، رسمیت ورکړی دی . اوهرنګه چه دیونانو دباختری دولت‌پنسټ لومړی پلازده دپلارله خوا دهندوکش په جنوب او ټوله آریانا کې کېنودل شو، نویې درسم‌الخط په‌توګه دخروشتی د استعمال لزوم‌اودمحلی ژبې‌په‌حیث‌یې دپراګریت داستعمال لزوم احساس کړ،اووروسته له‌ده څخه‌ټولویونانو باختری شاهانو اودپهلوا اواشکانی سلالې اوسترو کوشانیانو ، کدفیزسیانو ترکنیشکا پورې، دارویه تعقیب کړی‌ده، دخروشتی خط آثار په پنجاب اوختن کې هم کشف شوی دی . مګرپوهان دا عقیده لری چه

دختن لیکنه اصلا په ګندهارا کې لیکل شوې ده او بیا هلته وړل شوې ده .

خروشتی زیاتره په ډبرلیکونو (سنګ نبشته‌ها) دفلزی لوښو (ظروف) پرمخ په مسکوکاتو، دمنګیو، خورینو لوښو اودکړ کی (نی) دبوستکو پرمخ اونورو لیدل شوی‌دی . دالفبا د توریو دلیکلو اصول یې دفلزی لوښو پرمخ عمومادمسلسلو ټکیو په بڼه کیدو اوپه فلزی قلم کښل کیدو. دکو ډرینو (سفالی) لوښو دپاسه یې معمولا په‌تور رنګ او قلم لیکلو .

په افغانستان کې خروشتی کتیبې له‌بیلو بیلو ځایو څخه لکه دوردګو خوات، ددرونتی بیماران، دجلال آباد هډه او بګرام څخه پیداشوی‌دی . دلته لومړی‌دهر یوه په‌شاوخوا کې په‌لنډه توګه سره وایو اوبیا وروسته په مجموعی ډول سره تبصره وربانديې کوو .

لومړی دبیمارانو کتیبه : داکتیبه دډبرې کاسې د سرپوښ دخارجی مخ چاپیره اودخنډې (حاشیه) دژی‌ر په امتداد کښل شوې‌ده‌چه دبیماران دکلی‌ددوهم‌نمبراستوپې‌څخه کشف‌شوې‌ده . (مسن‌انګلیس)د۱۸۳٤- ۱۸۳۷کلونو ترمینځ‌هغه کشف کړې‌ده. )

تاریخ‌نه‌لری، خوداسکائی باچا(ازس) .زمانی دی، چه د(۵۸ق‌م) په‌خواوشا کښی یی باچهی کړې‌ده . اوپه‌پراکریت ژبه لیکله شوې‌ده ، اوپه‌دغه لیکنه (کتیبه) کښی دهغه وقف لنډه شرح اوبیان شوی دی چه د(موجاوات) زوی (شیوارا کشیته) دهولو بودایانو په‌افتخار هغه وقف کړې‌ؤ .

دوهمه دهډې لیکنه‌ده : د غه لیکنه (کتیبه) دختو پر پخو کوډرو باندی په قلم او تور رنګ لیکلې شوې ده، نېټه یی ، دکنیشکا په‌زمانه کښی‌په ۲۸کال د (ایه‌لایوس) دمیاشتی په‌لسمه نېټه لیکلی‌شوې‌ده . او دیوې وقفی خاطری شرح‌او بیان بکښی دی، داکتیبه (سمګه‌میترا) نومی مهندس دباچا په‌باغ کښی‌پریوه استوپه باندی دیادګار په ډول ابنې‌ده او دهغه‌وخت دباچاپه‌حق کښی‌یی‌هم‌دعا کړې ده ،(ګمان کېږی چه دابا غ په هډه کښی دکنیشکا له‌باغونو څخه یوباغ ؤ) او ددغی لیکنی پیدا کونکی (کاشف) هم(مسن) دی .

دریمه دخوات لیکنه ده : دالیکنه د یو فلزی ( مفرغ) لوښی دبرغولی(سرپوښ) پرمخ‌اوخواوشا باندی لیکله‌شوې‌ده، اوردګو په‌خوات کښی موندل شوې ده. او دهغې له‌لیکنی څخه داسی څرګندیږی چه‌د کنیشکا دورو ستنیودوروپه نمونو پوری مربوط ده او دکنیشکا د زمانی په(۵۱)کال د(ارته میزیوس) دمیاشتی په۵ نېټه ، دکوشانی، هوویشکا دباچهی‌ر په زمانه کښی لیکله شوې ده. اودکتیبی متن له یوې وقف نامی څخه عبارت دی ، او په واضح ډول سره ور څخه څرګند ېږی چه د هوویشکا)(چه‌د۱۸۲م په‌خواکښی مړشوی‌دی) دزمامداری‌ر په‌دوره کښی په (خووادا) یعنی اوسنې خوات کښی یوه محلی کورنی‌روه دا کورنی‌ر (ماریګا)نومیده ، او دې کور نی‌ر به‌په دغه ناحیه کی دخیرکارونه لکه د مخکو وقف کول او د معبد اواستوپې ودانول کول، اودغه‌وقف کوونکی (واګره‌ماریګا ) نومید د(کمه ګل‌کا)زوی اود(هشتومه ماریګا)وروړ ، اوپخپل نامه‌بی یو معبد چه د(واګره ماریګا معبد)په‌نامه مشهور ؤ په خوات کښی جوړ کړې‌ؤ .

څلورمه دجلال آباد لیکنه : دالیکنه د ډبری پر مخ نقر شوې‌ده او دکابل په موزه کښی‌شته .(استن کنو) په (اکتا اوریانتیالیا) کښی دهغی په‌خواکښی یو مقاله نشر کړې ده .

پنځمه دبګرام‌لیکنه : دالیکنه په‌بګرام کښی کشف‌شوې‌ده . (واستن کنو) د(بګرام خروشتی لیکنه) ترعنوان لاندی د هغې دکیفیت او احوالو په باب کښی په(اپی ګرافیا اندیکا) کښی یوه مقاله لیکلې‌ده .

تبصره: لکه چه‌دغه مبحث په اول کښی موبیان کړې‌دی ، خروشتی رسم الخط په ۳ ق م پیړی‌ر په افغا نستان کښې له آرامی رسم‌الخط څخه اخیستل‌شوی‌دی، د خرو شتی او آرامی رسم‌الخطونه چه‌د(ننګرهار) په‌سیمه کښی په ( درونټه، بیماران، هډه او جلال‌آباد کښی لاس‌ته راغلی‌دی ، ددغو خطو نو د پیدا کېدو اوخپرېدو اوشایع کیدو له‌نقطه نظره ډیر اهمیت لری وړاندی موولپدل‌چه د(متریوس) یونانو باختری باچا وروسته له‌هغه چه دهندوکش په جنوبی او شرقی سیمو کښی خپل نفوذ خپور کړ ،نوبی دا لازمه وبلله چه پخپلو مسکوکا تو کښی سربیره بریونانی ژبه او رسم الخط ، خروشتی رسم الخط او دګندهاری پراګریت ژبه رواج او ولیکی ، او دننګرهار او کاپیسا او وردګو د علاقو کشف شوی خرو شتی لیکنه په‌پاثبات رسوی چه‌دخروشتی د ودې اوترقی‌ر مرکز دهندوکش جنوبی خواوی‌وی .

دافغانستان ډېری پخوانی‌ر خرو شتی لیکنی د (بیماران) لیکنی‌دی چه‌د(۵۸ق‌م) په خواوشا کښی داسکائی باچا(ازس) په‌زمانه کښی لیکلی شوی دی . او دجلال آباد او (وردګو) لیکنی چه‌په وقف‌نامو کښی‌دی، داسی‌څرګندوی چه دکوشانیانو اوکنیشکا او هوویشکا په زمانو کښی خرو شتی استعمال او رواج درلود .

ددغه‌رسم الخط ، ژبه، چه‌په‌مسکوکاتو او داوقافو په‌لیکنو کښی‌دی، له‌هغو پراکریتو څخه یوه ده‌چه محققینو هغه (شمال غربی پراکریت) بللی ده ، او څرګند ېږی چه په ګندها را او دکابل په‌ناوه کښی‌به‌ډېره معموله‌وه. او دهغو اسنادو له مخی

چه‌موږ وښودل داسی څرګندېږی چه په‌ټول افغانستان اویا دهغه په‌زیاته برخه کښی به‌یی‌رواج درلود ،اویاداچه سربیره پرنورو لهجو او نورو پراکریتو د یوې مشهوری او دفتری او رسمی ژبی به‌حیث په هرځای کښی خلك پرې پوهیدل ، نو له همدی کبله په‌مسکوکاتو کی د یونانی په‌مقابل کښی استعمالیده .

دخروشتی وروستنیږ لیکنه، په ګنده ها را کښی کشف شوې ده او دهغې الف وبی توری دوردګو د لیکنی له‌توریو سره ډیر مشابهت‌لری.

اوهر کله‌چه خروشتی دعلمی‌اومذهبی مطالبو په لیکنو کښی‌نه‌استعمالیده نوله‌دغه کبله دهغه‌دوام او بقادپاره زمینه نه‌وه مساعده اوله‌همدغه املە اوه‌سوه کاله ورو سته دهغه اړو دوړ اواله ګولې په‌اثرچه دلویو کوشانیانو لاسقوط اوله منځه تللو څخه وروسته پېښه‌شوې‌وه بیخی له‌منځه ولاړه .

اوچه ساسانیان ترتخارستان اوکابل پوری ور سېدل اوله ینقلیانوسره ددوی‌نښته اوتماس‌راغی‌نو په‌دغه زمانه کښی پهلوی ژبه‌اورسم الخط خپور اورواج‌یی وموند .

برهمی اوشارادا: لکه چه په افغانستان کښی دمحاسبې ددیوان اودفترو لیکونکو د خپلو اړتیاوو دپوره کولو له املە آرامی رسم‌الخط اوخروشتی‌لیك اختراع کړل ، په هند کښی‌هم دآرامی‌لیك له‌دغی‌مبدې‌څخه د برهمی‌لیك‌منځ‌ته‌راغی‌خودخروشتی په‌خلاف برهمی له‌کینی‌خواڅخه ښیې خواته لیکل کېدو اوهغه دپنډتانو اوروحانیونو رسم‌الخط ؤاودهند، تبت، سیلون‌اوبرما دټولو رسم الخطو منشاشو اود(دیوانا ګاری) رسم الخط چه دسانسکریت په‌لیك کښی استعمالیږی له‌هغه مشتق شوی دی برهمی خط په‌افغانستان کښی‌نه‌ؤ رواج خوځینو یونانو باختری باچا یانو لکه (اګاتوکلس) او(پانتالئون ) هغه پخپلو مسکوکاتو کی رواج کړ، اوهوسوه کاله‌له دوی څخه وروسته کیدارییانو هم‌پخپلو مسکوکاتو کښی‌هغه‌استعمال کړ اود کوشانی کورنیږ پخپلو نیولو هندی سیمو کی په دغه‌رسم الخط لیکنی لری، چه ځینی‌یی په(ماتورا) اوځینی یی په ( راجپوتانه) کښی موندلی شوی‌دی اوددې تو پیر (فرق) له‌املەچه ددغو لیکنو دالف وبی‌توری‌یی له عادی بر همی سره لری ګډای شی چه هغه‌ته (کوشانی‌برهمی) لیك‌ووایی اوپرته له‌هغه یوډول‌برهمی مخصوص آثار دافغانستان په لمرختیځو بر خو کښی دلغمان په ناوه کښی موندل‌شوی دی چه هغه د(شارادا) رسم الخط بولی اودهغه ته لیکنی (موسیو فوشه) لیدلی‌دی ، او نوموړی داسی عقیده لری‌چه ددغو لیکنو لو ستل ګران دی، اوداسلامی دین له‌خپرېدوڅخه وروسته په دغوسیمو کښی لیکلی شوی دی .

پهلوی‌لیك: لکه د میخی اوبرهمی اوخروشتی اودیوانا ګری درسم‌الخطو په‌شان د پهلوی لیك (خط) منشاهم آرامی ده، اولکه‌چه نن ورځ پهلوی‌ژبه په‌دوو عنوانو (پارتی‌پهلوی) او(ساسانی پهلوی) ویشی دهغو دوو رسم الخط هم توپیر سره لری پارتیانو په‌اولو وختو کښی یونانی‌ژبه اویونانی‌رسم الخط رسمی کړی‌وو، لکه‌داخبره دهغو له‌مسکوکاتو څخه په ښه ډول سره څرګندېږی خو ډېره زمانه نه‌وه تېره شوې چه دیونانی رسم‌الخط ځای پهلوی رسم‌الخط ونیو اورواج شو . د پارتی پهلوی رسم‌الخط آثار بې ډېرو له‌ځینو لیکنو څخه نور ډېر کم پیدا کېږی اوپه‌اولووختو کښی دهغه دالف وبی دتوریو اشکالو له‌آرامی سره ډېرتوپیر نه درلود، خو ورو ، ورویی تغیرومونده اوجلا شو ساسانی پهلوی لیك. له پارتی پهلوی رسم‌الخط څخه‌ډېرساده‌دی اوه۲توری لری او آواز لرونکی اوبی‌آوازه توری‌هم پکښی شته، اودغه لیك مقطع او متصل توری دواړه اری ساسانی‌پهلوی لیك چه کوم‌لوی عیب اوبدې لری هغه‌دادی چه‌دیوشمېر آرامی لغانو دلیك شکلو نه دهغه دلیکلو په‌طرز کښی ګډوډی‌دی اوخلکوته‌به‌یی زیات اشتباهات پېښول ددریمی مسیحی‌پیړۍ په وروستنیو وختو کښی چه لوی کوشانیان مه‌منځه ووتل اوسقوط یی‌وکړ اوپه افغانستان کښی دساسانیانو نفوذ خپورشو، په دغو وختو کښی نوساسانی پهلوی رسم الخط شروع اورواج شو او ددریمی پیړۍ په اخیرنیمایی کښی ددوی دهغونائب‌السلطنه ګانوپه واسطه چه په خراسان کښی به د(کوشان باچا ) په‌نامه یادېدل نشرشو اوکیدریانو وپفتلیانو اوکوشانو پفتلیانو اوکابلیانو برهمن شاهانو دغه رسم‌الخط پەخپلوسکوکښی‌استعمالاوه اوداروش او طرزداسلام له‌زمانی څخه وروسته دصفاریانو تروختوپوری دکابلیانورایانو پەسکوکښی مشهوردی دساسانیانو دزمانی په ورو ستنیووختو کی‌دمتونو دلیك دپاره ، مؤبدانو ، نوی (الف بی) را پیدا اواختراع کړل چه‌د ( دین دپیری ) په الف بی مشهوره ده اوترلومی هجری پیړۍ پوری‌اوستا اوساسانی پهلوی ادب په همدغه الف بی لیکل کېدو .

پنځه برخه:

په‌افغانستان کی‌دیونانی‌ژبی اورسم‌الخطاویونانی ادب خپرېدل:

شرقی هیوادوته داسکندر له راتلو څخه پخوا، دهندوکش په خواو شاسیمو کښی اوستائی آئین اومعتقداتو او او ستائی ادب رواج درلود،اوداسیمی دهخامنشی ترنظام اداریلاندی‌وی که‌څه‌هم‌حاکمان اوساتراپان (نائب‌الحکومګان) که نظامی‌وو او که ملکی وو دهخامنشی ددولت له‌مرکز څخه تاکل کېدل، خوزیات به‌یی محلی مشران وو .

دهخامنشی دحکومت سیستم اوطرز په‌نیولشوو اومفتوحه هیوادو کښی داسی ډ ، چه مالیه به‌یی ټولولی، او دمالی چارو په اصولو کښی به‌یی زیات له‌آرامی اوآشوری منشیانو څخه

دایرة‌المعارف ۲۰۰۰ جلدمحمداعظم

کار اخیست، اوددفتر اوضراب‌خانو کارونه، نه‌یوالخی په‌نیولشویو مخکو کښی بلکه پخپله په (شوش) او (برسه‌پولیس) کی‌هم ددغو منشیانو په‌لاس کښی وو . ټول پوهان داسی عقیده لری چه دهخامنشی په دولت کښی اوپه هغو مخکو کی‌چه‌هغه نیولی اوددې امپراطوری جزاوبرخه وی‌آرامی‌خط او کتابت دمالیو ددفترو اودهغو دلیکونکو په‌واسطه تیت اوخپور شوی ؤ . او لکه‌چه‌مخ کښی موبیان‌وکړله همدغه رسم‌الخط څخه په‌لمر ختیځ افغانستان کښی نوی‌خروشتی‌لیک اختراع شوی‌اومنځ ته راغلی‌دی په‌شرق کښی داسکندر دفتوحاتو په‌اثر دآسیا ددې برخی په تاریخ کښی نوی پانې پیدا شوی اودشرق اوغرب تر منځ پرته پسې‌اووقعی‌تماس‌راغی،اوله‌زیاتو سختو اوکلکو مقابلوڅخه وروسته‌یونانیانو دافغانستان‌په‌غرونو کښی‌ځای‌ونیو چه‌په‌نتیجه کی داوه، اتو اسکندر یودتاسیس له‌کبله اوپه لمر ختیځ افغانستان کښی دباختری یونانیانو ددوه سوه کلن سلطنت په واسطه په آسیا کښی دیونانی صنعت، افکارو اوادب روح پیداشو ، اوله دغه کبله هغه (آسیائی الیاد) بلل کیدای شی.دباختری یونانیانو د مستقل سلطنت په دوه سوه کلنه دوره کښی یونانی ژبه اورسم‌الخط اواساطیر اوخوندور آثار او ښکلی (مستظرفه) صنعتونه اونور علمی اوادبی مظاهر لکه‌یونانی طبابت، نجوم ، ریاضیات او هندسه په‌دې سیمو کښی ټیت اوخپاره شول ، اوله باختری او آریائی مدنی، ادبی او تهذیبی اساساتو سره ګډ اومخلوط شول . د(یونان) او(یونانی) کلمی چه د(ګریس) او (ګریك) او (هلن) او (الیاد) له کلمو سره هیڅ کومه رابطه نه‌لری،د(یونانا) او(یونانی) دپخوانیو نومانو یوه خاطره ده چه زموږ دهیواد په‌محلی‌ادب کښی پرمبی‌وار ورکړ شوې ده ، او زموږ دسانسکریت‌په‌آثارو کښی راغلی اوترڼ ور ځی پوری لااستعمالیږی .اود(یونانو‌باختری) او (یونانو‌بودائی) دمدرسو دهیکل‌توزلو (تراشی) آثار چه دافغانستان په‌مختلفو ځایو کښی په‌زیاته اندازه پیدا شوی اومونډل کیږی ، څرګندوی چه په کومه اندازه دیونانی سلیقه او یونانی‌ذوق دپخوانی افغانستان دوګړو له‌قریحی‌سره ګډشوی وو او دیونانی‌ژبی په‌مقابل کښی دبراکریت‌ژبه‌اودیونانی‌رسم‌الخط‌په‌مقابل کښی‌خروشتی‌رسم‌الخط رواج و ، اوداادبی‌الشوالی اومبادله په لاندی توګه‌بیانیږی :

اسطوری : د آریانا په اسکندریو کښی چه یونانیان میشت اواستوګنه یی غوره کړه او د اسکندر له مړینې څخه وروسته چه‌دهغه امپراتوری ټوټه ټوټه اوتجزیه شوه او پرمحلی‌سلطنتو ووېشله‌شوه ،نوددغو یونانیانو رابطه له یونان سره قطعه‌شوه اودیونانو باختری مستقل سلطنت له‌ایجاباتو اولواز مو سره‌سم ددی ځای له محلی اوبومی وګړو سره مخلوط اوګډشول، او ورو، ورو په دې خلکو کښی منحل شول او یونانی افکار او اومعتقدات‌یی‌له دوی‌سره داصلی وګړو په منځ کښی تیت‌وپرک شول، اوددوی یونانی نکلونه اواسطوری او د ارباب‌الانواعو نومونه‌یې دعوامو په منځ کښی خپاره شول . یونانو باختری باچاهانو دخپلو کورنیو دساتوندویو ارباب الانواعو نومونه او شکلونه په‌خپلومسکوګاتو کښی‌نقش اورواج کړل.اویونانی صنعت کاران باختری یونانیان شول. او دباختر،بامیانو، کابل، کاپیسا اوهډې دهیکل توزلواستاذانو دهیکل توزلو(تراشی) او نقاشی‌له‌لاری‌دنویومفکورو په‌خپرولو کښی‌لوبه‌بوخه واخیسته . د یونانو باختری پرمبنی سلطنتی کورنۍ (دیو دو تانو) په‌خپلو مسکوګاتو کښی (زوس پروما کوس) ضرب او چاپولی. اودیونانو باختری دوهمی باچاهی کورنۍ په‌خپلو مسکوګاتو کښی د (هرکول) د تصویر چاپول غوره کړه . هرکول او «دیونیزوس» اودهغو خپل خواص لکه رشادت او پالوانۍ‌او مستۍ چه‌درلودلو‌یی زمونږ په‌رزمی اسطورو او نکلونو کښی راغلی اوپیرلخای لری ، یونانیانو ځینی میتو لوژې صحنی له یونان څخه افغانستان ته راوړی دی ، لکه چه د (پرومته) بندیخانه یی دهندوکش په‌یوه سمڅه کښی تصویر کړې‌ده . او (دیو نیزوس) چه اصلی نوم یی (دیونیسه)ؤ ، د(نیسه) د ښار ساتوندوی یی‌باله، او(موسیو فوشه) دهغه‌ځای په کوزنی لغمان کښی دکابل او(الینګار) دسیندونو له یوځای کیدو څخه کښته خوا سیمه کښی بولی او باید دې خبری‌ته ځیر او سو چه پخوا تردی چه‌یونانیان او دهغو اسطوری افغانستان‌ته‌راشی ، زموږ په هیواد کښی د (مهشوارا) په نامه یورب النوع چه د غرونو ساتوندوی ګڼل کیده، مشهورؤ ، چه دیوبیاوړی اومستښکا ړی په‌څېره اوشکل به‌یی په‌داسی‌حال کی‌چه‌یوه وېره وونکی لینده به‌ورسره وه اوپه‌غرو کی به دغرنیو ونو په منځ کښی ګرزېدو دهغه څېره تصویر او کښله ، اودغرو په‌سر کښی‌یی‌معبدونه لرل، اودهغه‌زیات نکلونه دیونانی(دیونیزوس) له نکلو اواساطیرو سره ګډ شول اوپه‌دې هیواد کښی دهغه‌دزیات شهرت‌سبب‌شوی‌ؤ. پریوه لوښی باندی چه په بدخشان کی پیدا شوی ؤ او اوس دبرتانیا په‌موزیم کښی دی ددوو پالوانانو څېری اوتصویرونه لیکلی‌دی ، چه‌ځینی یی‌د(هرکول) او(دیونیزوس) بولی ،اوځینی یی دآریائی او یونانی (دیونۍ زوس) څېری بولی .

(اګاتوکلیس) نومی‌یونانو باختری باچا په‌خپلومسکوکاتو کښی دیوزلمی څېره چه پر سر یی د انګور دتاك شین خاښ‌یی لیکلی‌ده ، چه‌هغه یادیونانی د یونی زوس څېره‌ده اویادیوه ځای څېره ده .

له(اګاتوکلیس)څخه دوه‌سوه کاله‌وروسته (اپولونیوس‌دوتیان Apoollonius De Tyane نومی‌یوسیاح‌زمونږ‌هیواد‌ته‌راغلی‌دی وایی:چه د(پاروپامیزادی) په‌علاقه کښی په یوغره کښی یومعبدؤ

چه(دیونیزوس) نومېد اوداسی بیان یی کوی چه‌ددغه‌معبد په خواو شاکښی یوځوونې‌وی چه‌پخپله‌دیونی‌زوس کښېنولی‌وی اودعشق پیچان‌ناز کی‌لښتی هغوته‌ختلیی‌وی اووایی‌چه ددغوونو تر خابنو لاندی‌دیورب‌النوع مجسمه‌وه‌چه دیوهندی‌ځوان په‌څېره له ډېری ځغه‌جوړه‌شوې‌وه ددغی‌مجسمی دځیرې‌لـه بیان‌څخه په ښکاره څرګندېږی‌چه‌دغه دیونیزوس دشرابو‌یونانی رب‌النوع نـه ؤ بلکه‌داهمغه (مهشوارا)دغروساتوندوی‌دی چه‌په افغانستان کښې یې‌دغرو‌پرسرو‌باندی ډېرمعبدونه‌درلودل لکه‌چه (دیونیزوس) په‌باب کښې بیان‌وشو داسی‌نه‌دی‌چه یوالحی‌یونانی ار باالانواعو اویونانی اسطورو په‌افغانستان‌کښی تاثیربخښلی‌ؤ بلکه دویدی میتولوژی خاطرو اودافغانستان دآوستائی نـکلو او داستـانو بقیاؤ هم‌دیونانیانو په‌اذهانو کښی‌تاثیر کړی‌ؤ لکه‌چه(اناهیتا) ناهید او(میترا) مهردیونانو باختری باچاهانو د مسکو کـاتو پرمخ‌باندی‌لیدل کېږی لنډه‌داچه له دغوبیانوځخه څرګندېږی چه‌دیونانو باختری دمستقل‌سلطنت‌په‌دوه‌سوه کلنیږ دوره کښی له‌یوې‌خوا یونانی‌اسطورو دافغانستان دوګړو‌په اذهانو کښی تاثیراوریښی ځغلولی‌وی اواله‌بلی‌خوا دافغانستان‌محلی میتولوژی روایاتودیونانیانو پراذهانو بـاندی تاثیر اچولی‌ؤ ، اوددې ادبی ذهنی‌اوفکری‌فعل اوانفعال‌او په‌دواړوخواوو بـاندی د تاثیراتو انعکاس په‌وروستنیو دورو کښی داسلام تروختوپوری‌هم‌پاته‌شو زمونږپه‌ادبیانو اولیکوالو کښی ډېر داسی کـسان شته چه په مختلفودورو کښې یې‌منظومې او منثوری اسکندرنامې‌لیکلی‌دی اوډول ډول نکلونه چه‌په کـتابو اوقصصو او حکایتو کـښی هروخت‌راغلی‌دی خورا ډېردې اوداسی‌څرګندېږی هغه وخت چه‌یونانیان دلته‌راغلل اودلته‌یی استوګنه‌غوره کړه او ښکلی صنعتونه‌یی دلته‌رواج اونوی ښوونـځی یی پرانیستل نودتخیل اوافکارو‌په‌طرز اودنکلونو اوقصوپه‌جوړولو کښی یی چه‌دعامو خلکو‌په‌دماغو کښی ځای‌لری اودعاموګړو روح‌پری مشغول وی تاثیر واچاوه اوپه پای‌کـښی زمونږ په ادب کـښی نوی موضوعات اونوی ډول راپیداشو .

یونانی‌ژبه اورسم‌الخط : ترمیلاد له‌مخه په (۲۵۰) کـلنیږ کښی‌یعنی له‌هغه‌وخت څخه چه دیونانو باختری مستقل سلطنت دلته اعلام‌شو زمونږ په مسکو کـاتو کـښی یونانی رسم الخط شروع اورواج شوی‌دی اوپه‌څو ډومیو کـلو کښی ددیودوت ) او(ایوتیدم) باچاهی کورنیو باچاهانو پخپلو مسکو کـانو کی یوالحی یونانی ژبه اویونانی رسم‌الخط استعمالول ، تر څو چه و(دمتریوس)ته‌باچاهی ورسیده اونوموړی ډومبنی‌سړی دی چه دخپلومسکو کـاتو پرمخ‌باندی‌یی دافغانستان د هغه وخت خپلـه هیوادنیږژبه اورسم‌الخط یعـنی (خروشتی) او ( پراکـریت) استعمال کړل له ۲۵۰ق‌م کال‌څخه‌دمسیحی‌زمانی دشروع تر وختو پوری یعنی‌ددونیمو پیړیو په‌موده کښی په‌ښکاره اوځرګنـد ډول چه‌خوراښه لوست کـېدو دهندوکش په‌شمالی او جنوبی دواړو خواوسیمو کښی دیونانی باچاهانو اومشرانو په مسکو کـاتو کښی‌یوډول یونانی رسم‌الخط رواج اواستعمالېدو اوپه‌دغه‌موده کښی پارتیانو اواسکائیانو اوپهلوابانو ټولو د غه لار ونیوه اودغه‌طرزبی رواج کړ اودکوشانی‌دوری له‌شروع څخه‌وروسته دیونانی‌ژبی اورسم‌الخط کـښته کـېدل (انحطاط) شروع شو په‌دې‌ډول چه‌دهغې دالف بی‌په‌توریو کـښی تغیرراغی او ځینی نورنوی توری هم‌پیداشول، اودهغودواړو ډولو توریو مجموعه د(یونانو کوشانی) رسم‌الخط په‌نامه موسومه شوه، اودکوشانی عصرترپایه یعنی‌ددریمی‌مسیحی پیړیـ ترمنځنیو وختو پوری‌یی دوام‌و کړ . اودیونانی‌ژبی دخپرېدو او پاینت (دوام) څه رنګه والی‌بنه‌نه‌دی معلوم داسی ګـمان کېږی چه یونانی به‌په اوله‌ق‌م پیړیـ کښی یوالحی‌درباری‌رسمیت‌درلود اوپه‌ضرابخانواودفترو کښی‌به رواج اومعموله‌وه نو دهغې دروا‌ج او خپرېـدومیدان به‌هرومرو محدودؤ لکه چه‌دمسکو کاتو پرمخ‌باندی دپراکریت اوخروشتی رسم‌الخط ښکارېده اولېدل کېدل‌هم دغه‌نظریه‌تائید کوی اوزیاتی‌درباری ، اداری علمی ادبی اوطبی کـلمی زموږ په‌پراکریت کښی ګډی شویدی ، اودکوشانیانو په عصر کښی ترډېری وروسته مودې‌پوری مروجی اومصطلحی وی اولکه‌چه ددغی‌تاریخچی په‌څلورمه برخه کښی مو بیان کړی دی د یونانی میاشتونومان لـکه (اپه‌لاپوس) او(ارته‌میزیوس) په خروشتی لیکنو کښی دپراکریت په‌متن کښی استعمال شویدی له مسکو کـاتوځخه پرته په‌افغانستان کښی دیونانی‌رسم‌الخط نښی تراوسه ډېری کمی لیدلیی شویدی اوهغه‌هم په یوه فخاری ټوټه کښی چه‌دری‌کاله ډومبی دبلخ اواخچی ترمنځ د(نـلك) د غونـدۍ په‌خرابو کښی پیداشوې‌وه ، اوهغه‌هم یوځوتوری‌دی .

شپږمه برخه :

پرشوی ژبه اوادب یاخراسانی پهلوی : د پهلوی لفظ نسبتی صفت دی چه‌په نسبتی (ی) د پهلو Pahlow له اسم څخه جوړ شویدی، (پهلو) د(پرشوه) دکلمې وروستنی شکل دی، پرشوه Parthava ډېره آریائی باختری طایفه‌وه چه په غربی خراسان کښی دهری او داو دخزردبحیری دجنوبی غاړو (سوا حل) په سیمو کښی میشت شول ، اوپه دغه‌ځای کښی د (پارتیا) په نامه مشهور شول . ارساس بلخی د(پرشوه) دسلالې مؤسس دی . له‌لویو پارتیانو څخه پرته ، نور باچاهان ، چه د ( سهاك ) له‌عرق‌څخه ؤ اوپه پښتو ژغیدل په افغانی‌سیستان اودارا کوزی ( ارغنداو په‌حوزه) کښی یی سلطنت درلود . دپر شوه دطایفی ژبه (برشوی) بللـه کـېده چه دتوریودبدلېدواودغږ (صوت) دتبدیل په‌اساس (پهلوی) شوې‌ده .

دپرشوی ژبی دآثارو له کشف څخه وروسته چه د(تورفان)
له‌خرابو څخه پیداشول پهلوی دوه‌معین‌ادبی مفهومونو پیدا کړل
چه یوه یی پارتی پهلوی یاد افغانستان دخراسان پهلوی یا شمالی پهلوی
بولی، او بله یی هم‌هغه ساسانی پهلوی ده ، چه دجنوبی پهلوی
په‌نامه هم‌مشهوره ده، ځکه چه‌دهغی مرکز دایران پــه جنوب
کښی فارس ؤ . پرته له‌دغه‌اختلاف اوجلاوالی‌څخه چه دخراسان
پهلوی اوفارس پهلوی یی پخپل منځ کښی سره لری ، دریښی
اختلاف هم دهغو په‌منځ کښی شته . اودامسئله زمونږ دادبیاتو
په‌تاریخ کښی زیات اهمیت لری، ځکه چه‌دژبو دډول ډول کیدو
اوتطور له نقطه نظره ددغی مسئلی څرگندیدل او پــه هغې
پوهیدل، په خراسان کښی د(دری) ژبی او ادب دپیدا ښت په
موضوع کښی زیاته مرسته کوی . نو باید مونږ دې تــه نظر
وکړوچه پرشوی یازمونږ دخراسان پهلوی له‌اوستائی ژبی یاز ندسره
نږدیوالی اوپیوستگې لری، اوساسان پهلوی د پخوانی فارس
لهجه ده . او په‌دې کښی هم شك نشته چه‌دعو پیړیو په‌زمانه کښی
دپرشوی اوساسانی ژ و په‌منځ کښې یوله بله ادبی‌فعل او انفعال
اویو په بل پوری ارتباط راغلی‌دی . اوچه پر شوی ژ به دپارت
ددولت دجوړیدوله کبله‌رسمی‌ژبه شوه نو کله چه‌دپارتی سلطنت
مرکز له‌غربی خراسان څخه دایران هیواد تــه‌ولاړ نــود هغه
مملکت په‌شمال اومرکزی برخو کښی نشر اوخپره شوه ، او
دساسانیانو پرژبه یی زیات تاثیر واچاوه . او پــه‌پــای کښی د
ساسانیانو دترقۍ په دوره کښی دهغه تفسیر او هغه تعبیر لــه
کبله چه په‌پارتی ادب کښی‌راغی نودهغې‌شکل او څېره دومره
بدله اوتغیر یی پیدا کړ چه دهغه د معلومولو دپاره په‌کارشوو چه
ستراستر اروپائی پوهان په دغه باب کښی څېړنه اوزیارو باسی
پارتی پهلوی اوساسانی پهلوی په رسم‌الخط کښی هم توپــیر
سره درلود، سره له دې چه ددواړو درسم‌الخط مبدأ آرامی ؤ.
او دافغانستان دادبیاتو په‌تاریخ کښی مو نږ له دواړو پهلوی
رسم‌الخطو څخه بحث کوو ،

پرشوی ژبه اوادب : د شلمی پیړۍ له‌شروع اوابتداء څخه
دهغو پرله‌پسی کشفیاتو په اثر چه په چینی ترکستان په‌تېره بیا
د(تورفان) په‌علاقه کی وشول ، دباختری کورنۍ ژبی اودهغو
مخصوص مختلف اوډول ډول رسم الخطونه کشف شول، چه‌له
هغې جملې څخه د«مانی» دین آثاردی چه په (سریانی) رسم‌الخط
موسوم‌اوپه (سطرنجیلی) لیکلی‌شوی‌دی. اوپروفیسر (اندراس)
ترټولواول دوې پارتی پهلوی او ساسانی پهلوی ژبی کشف
اواثبات کړلی . اواستاذ (کریستن سن) داسی نظریه لری چه
پارتی پهلوی د وړاندېوالی او خپل قدامت او سیاسی او مدنی
تسلط له کبله پرساسانی پهلوی باندی ډېر تاثیر اچولی‌دی .

لکه چه وایی : (یوشمیر زیاتی کلمی چه په مذهبی ، سیاسی
اواجتماعی ژوندانه پورې ارتباط اواړه لری، لکه د وسلو او
دنقلیه وسائلو اوطبی اصطلاحاتو نومونه اوورځینۍ مروجی
محاوری، اوحتی ځینی عادی افعال، چه په ساسانی پهلوی او په
فارسی ژبه کښی راغلی اومروج دی، له‌پارتــی پهــلوی څخه
راغلی اوپه ساسانی پهلوی مستعمل ، اوخپل پارتی شکل یــی
ساتلی دی، اودځینی کلمو په تلفظ کښی چه کومی بی انتظامۍ
لیدلی کیږی، هغه پر جنوب غربی لهجه باندی دشمالی لهجی
داواز اوصوتی تاثیراونفوذ له کــبله دی ) پرشوی ژبه چــه
دخراسان دخلکو ژبه وه له ۳ ق،م پیړۍ څخه تر ۳ مسیحی
پیــړۍ پــوری د افغانستان پــه شمالی برخــو کښی
رواج وه اوخلك پرې گړیدل . او دوهمه ژبه هندوکش پــه
جنوبی خواوو کښی پراکریت گــندهاری‌ژبه‌وه چه له‌خروشتی
رسم‌الخط سره یی رواج درلود . اودغو دواړو محلی ژبو له
یونانی ژبی اورسم‌الخط سره،چه داسکندر له‌یرغل او راتلو
څخه وروسته ورو ورو رواج کیدل، مقابله کوله . کله چه
دپارتیانو د سلطنت مرکز له خراسان څخه د ایــران غــربی
خواته نقل اوولاړ، نو پرشوی ژبه له هغو سره ولاړه اودایران
په شمال اومرکز کښی تیته اوخپره شوه . که څه‌هم په ړومبی
وخت کښی پارتیان دیونانیانو پرلار ولاړل اویونانی ژبه او
یونانی رسم‌الخط یې په‌خپلو مسکوکاتو کښی مستعمل اورواج
کول، خو ورو ورو ئې خپلې ژبی ته مخه واړوله، په دغه وخت
کښی پرشوی د(پرسید) دولایت پرژبه باندی چه هغه دایران
دژبو کانون وو ډېر تاثیرواچاوه . اودافغانستان په‌شمالی اوشمال
غربی برخو کښی دپخوا په پرشوی ژبــه پاتــه شــوه . او
دپهلوا له کورنۍ سره چه دپارتیانو یوخانواده وه څانگه‌وه
او دهیرمند او ارغنداو په‌حوزه کښی یی‌مستقل سلطنت کاوه ،
ترکابل اوزابل اوسندپوری خپره‌شوه .داسکائیانو ، تخاریانو
اوکوشانیانو له سلطی سره‌سم په‌یوه دوو ړومبیو ق.م پیړیو
اوپه‌اوله مسیحی پیړۍ کښی نوری اسکائی اوتخاری لهجی په
باختر اوتخارستان کښی تیتی اوخپری شوی. اوله پرثوی ژبی
سره دهغو له یوځای کیدو او گډون څخه (سغدی) ژبه پیدا او
منځ ته راغله،او لږ ورو ورو سته به‌له هغی‌څخه بحث وکړو. په‌دغو
وختو کښی د نسطوریانو له راتلو سره‌سم سریانی رسم الخط
خراسان ته راغی . او(مانی) مذهب چه مزدکی ساسانیانو هغه
خپلی‌خاوری ته‌نه راپرېښود ، په دغو وختو کښی یی په‌خراسان
کښی خپل‌فعالیت شروع کړ ، اوله‌دغه‌ځایه څخه ماوراءالنهراو
چینی ترکستان ته ورسید .

او په‌دې مساعده زمانه کښی پهلوی او سغدی ژبی دمذهبی او
ادبی ترقۍ اولوړې‌دورې ته ورسیدی.اوپرثوی رسم‌الخط چه

دکلمو او لغاتو ادا او تلفظ یی ډېر گران ؤ . د مانی په کومك اومرسته اصلاح‌شو .اوله‌سریانی خطیی سطر نجیلی‌خط اختراع کړ . دپرتوی آثارو کشف کېدوته مو وړاندی اشاره وکړه چه‌په دغه‌رسم‌الخط کتبی هغو دتورفان له‌خرابوځخه کشف شوی دی. موسیو(شیدر Schaeder) دخراسان دمانویانو د مجامعو ژبه دهغو په‌منځ کتبی‌لهجه‌وه، اوداسې وایی چه پارتی پهلوی ژبی دایران ترمغربی سیمو په‌دې‌سیمو کتبی ډیر پا بنټ اودوام کړی‌دی . اودمانی‌له‌وژلو څخه وروسته‌داسیمی دهغه د پیروانو دپناه او هتیتیې لخایونه شول ،

ایاتکارزریران : یوخورا غوره اوښه‌اثردی‌چه چه په‌پارتی پهلوی ژبه کتبی‌پاته‌دی، چه‌خراسان له‌ادبی فعالیتو او حماسی افکارو څخه نمایندگی کوی ، اودا اثر چه (ایاتکار زریران) نومېنزی یوه منظومه‌ده ، اولکه چه ددغه‌اثر دمطالعی اوتدقیق او دتورفان دمانو له‌متونو څخه څرگندېزی پرتوی یادخراسان پهلوی ژبه له ساسانی پهلوی څخه جلا شوې ده . که څه هم ایاتکار زریران پخپل اوسنی عادی شکل ( دساسانی پهلوی په زوائدو کی‌نغښتی‌دی) اودشپېزمی میلادی پېړۍ په خواوشا کی لیکل شوی‌دی ، اوتراخیرپوری داسی اتکل کېدو ، چه دارسالله یومنثور اثردی ، خوسره‌له‌هغه هم‌څینو ژبه‌یوهانو لکه ایتالوی (بلیارو) او آلمانی (گایگر) دهغه دکلمو او آهنگ له مخی داسی عقیده لری چه دهغه لهجه پخوانیې او قدیمی ده . تردې اندازې چه فرانسوی (بن وینست) ثابته کړې ده چه پرو مبنی (ایاتکار) نظم ؤ نثرنه‌ؤ ، اودهغه اصلی شعری متن تر دریمی مسیحی پېړۍ پخوا په (پرتوی) یاپارتی پهلوی کتبی ؤ، او په ۶مسیحی پېړۍ کتبی هغه په‌نویوتعبیراتو په‌ساسانی پهلوی کتبی راوړل شوی دی .

په دریمه برخه کتبی‌مو و لیدل چه‌په څه ډول سره یشتونو دوروستنیو تفسیرو له کبله خپل شعری ترکیب دلاسه ورکړ . په‌همدغه ډول‌سره دفرانسوی (بن وینست) په‌نظریه (ایایکار) هم‌دساسانی تعبیراتو او تفسیرپه‌اثرچه‌په پای کتبی دمتن‌یوه‌برخه شوی‌دی ،خپل‌شعری اومنظوم شکل له لاسه ورکوی او په‌نثر بدل شوی‌دی . اوله‌دې‌څخه چه د هغې دورې له زباتی کلمو څخه سوچه او پاك شوی دی ، نبه‌څرگندېزی چه منظوم ؤ، اودهغه دادبیاتومصرعو اوه اوه هجاء درلودل . اودساسانیانو له‌راتګ څخه پخوا په‌پارتی پهلوی لیکلی شوی‌ؤ . ددغه حماسی منظوم اثر موضوع ، دکشتا سپه کیانی بلخی باچا او دهغه د وروره (زریر) ، او دهغه دوراره (بسته واری) او دبسته واری دزوی (سپندات) بعنی اسفند یار جگړی دی چه له تو رانی خیو نی ارجاسپ سره ټې کړی وی ، چه‌هغه غوښتل چه بلخی سلطنتی کورنیې د اوستائی مذهب له منلو او نما نځنی (پرستش) څخه وارډوی .اوپه پای کتبی جگړه پېښه شوه اوکشتا سپه او نور بلخی شاهزادگان بریالی شول، نوپه دغه لحاظ مستر ( وست) ایاتکارزریر ،(دکشتاسپ شاهنامه)او(پرتوی شاهنامه)بللی‌ده. اوچه‌دجگړې دډگرپالوان (زریر)دی نویی د(ایاتکارزریران ) یعنی‌د (یادگار زریر) په‌نامه مشهور شوی دی ، اوهغه (زریر نامه) هم‌ویله کېدای‌شی .

اود دقیق کشتاسپه نامه ، یازریبتیر ، چه‌بلخی شاعر ، له تورانی ارجاسپ سره دکشتاسپه دجگړو په موضوع کتبی نظم کړې‌ده ،په‌حقیقت کتبی همدغه‌د (زریر) یادگار دی . سره‌له‌دې چه‌داستان دروح او درواياتو داساس تر منځ څه جزوی اولږ مغایرت شته،مگر ددقیقی دکشتا سپه نامی او دزریر د یادگار دپرتوی منظومی په‌منځ کتبی کوم اختلاف اوتوپیرنشته .اوکه دقیقی پخپله‌د(ایاتکار) په‌پرتوی‌نسخوځخه استفاده نه‌وی کړی ، خوددوهم مأخذ په‌واسطه یی‌په‌هغې کتبی لاس‌وهلی‌دی. ایاتکار زریران بوه‌لحانگړې حماسی منظومه‌ده چه‌دا اوددقیقی کشتاسپه نامه‌دواړی دپرتوی ژبی ادبی‌شکل او قیافه ښئی . اوله حماسی نقطه‌نظره معلومېنزی چه رزمی عنعنی په څه توگه د اوستا له یشتونو څخه وشهناموته را رسیدلی دی .

## اوومه برخه :

په افغانستان کتبی په کوشانی عصر کتبی د سانسکریټ دادب ترقی او ژوند : د پخوانی افغانستان د ادبیاتو په تاریخ کتبی (کوشانی) او(بودائی) عنوانونه د ادبی مجری په تحول کتبی هریوځانته څرگنده برخه‌لری ،خوچه‌دیوه دمقام اومراتبو تعین بی‌له‌بل څخه‌مشکل او گران‌دی،نودلته د(کوشانی‌بودائی ) ترمرکب عنوان لاندی دهغوپه دوره پوری مربوط مشترك ممیزات بیانوو :

(کوشان) په اصل کتبی د (یوچی‌سیتی) له‌قبیلو څخه دیوی قبیلی‌لقب ؤ بیا دیوې سلطنتی کورنیې خاص نوم شوی دی،چه زموږ په سیاسی تاریخ کتبی د لویو کوشانیانو او کو چنیو کوشانیانو په‌نامه ویشل‌شوی‌دی .اودادبی مقصد له‌حیثه داولی ډلی عصرمراددی ، چه‌دهغودوره دمسیح له‌اولی‌وخت څخه شروع اوتر دریو پیړیو پوری یی‌دوام کړی‌دی . اوپه‌دې لحاظ کی له (بودائی) څخه زموږمطلب بودائی مذهب نه‌دی، چه یوه‌پیړۍ تر میلاد له مخه پیدا اوتر ۹ مسیحی پیړیو پوری یعنی یوزر کاله یی‌دوام کړی‌دی ،بلکه‌زموږ مطلب دلته په عامه معنا چه مذهبی وی او که غیر مذهبی وی‌دهغه ادبیات دی ، چه‌دهغو دانبساط اوحققیقی تحول دوره ، دلویو کوشانیانو دعصر او زمامداری‌ې یادگاردی. اوپه همدغه‌ډول‌سره(دکوشانی‌بودائی) مرکب ، دافغانستان دادبیاتو دتاریخ په فصلو کتبی یوه‌مشخصه دوره ده چه‌په‌پورتنی ډول سره دهغې حدود ټاکل شوی دی.

د کوشانیانو معاصر ادب : پخواله دې چه په اوله مسیحی زمانه کښی کوشانیان منځ ته راځی اوددوی نفوذ په دې خاوره کښی خپریږی، په دې هیواد کښی لکه چه وړاندی مو وو یل مختلفو ادبی دورو نفوذ درلود ،چه هری یوې دهیواد په یوه برخه کښی په یوه رنګ دوام کړی دی . پراکریت چه په یقینی ډول یې ر ینه ویدی دورې ته رسیږی، دهندوکش په ټولو جنوبی او شر قی خوا وو کښې د محلی اوملی ژبی په ډول رواج ا و خلك په ګړ یدل . (پرتوی) ژبه ددغه غره دسلسلې په شمالی خواؤ کښی بالخاصه دخراسان په غربی برخو کښی یې دوام درلود. او یونانی ژبه دباختری یونانیانو له دوه نیمې پیړۍ سلطنت څخه وروسته چه رسمیت یې درلود په زیاته اندازه رواج اومعموله شوی وه . دسیتی قبیلو یعنی اسکائیانو، چه د کوشانیانو پیش قراولان وو، له خیل ځان سره خپلی لهجی راوړی اوپه تخارستان ( بدخشان او قطغن اوباختر) کښی اودخراسان اوسیستان په یوه بر خه کښی یې تیتی اوخپری کړی .

خروشتی او یونانی رسم الخطو دواړو ، رسمیت در لود او بورنګه په مسکوکاتو کښی استعمالیدل ، خو په اجتماعی چارو اوقومی معاملو کښی خلکو له پراکریت اوله خروشتی رسم الخط څخه زیات کاراخیست . بودائی دین پخیل پخوانی ار تود کس شکل، دهیواد په لمر ختیځو برخو کښی نوی رواج اوخپور شوی؛ چه یوچی قبیلی دآمو له سیند څخه را پور یوتلی او د کو شانی سلطنت اساس یی کېښود ، او دادب له نقطه نظره یوالخینی شی چه له هغو سره راغلی؛ هغه ددوی مخصوصه لهجه وه : چه ځینو د(سیتی) په نا مه او ځینو د (تخاری) په نامه یاده کړې ده ، کوشانیان چه نوی راغلي وو ، د ټولو شیانو احترام به یې کاوه اودقوم دروحیاتو اودزمانی دایجاباتو له مخی یی هرهغه شی ته چه په ژوندانه کی په کار اووړۍ انبساط ور کړ اوپخپله ئې تشویق اوپشتیبانی و کړه. او کوم شی چه په ژوندانه کښی لزوم نه درلود ورو، ورو له منځه ولاړ .

اوسره له دې چه د باختری یونانو په خیال ، کوشانیان یو (بربری) قوم؛ لکه چه په حقیقت کښی هم په مرکزی آسیا کښی یوه پوونده طایفه اوپه کیښ دیو کښی اوسیدل او بدوی ژوندون یی درلود، خو سره له هغه هم کوم وخت چه افغانستان ته راغلل اوله (یونانو باختری) او (یونانو بودائی) او (یونانو هندی ) تهذیب او معارف سره یی تماس راغی اوویی لیدل ، نوپه عامه معنایی کوشش و کړ او ذو قی آثار ، ښکلی صنائع ، معماری هیکل تراشی اوادبیات یی ژوندی اورواج کړل. اومذهبی چاروته یی ازادی ورکړه ، اوهغه وخت چه ګنیشکا شمالی هند و نیو نو دغه هیواد هم دده په امپراتوری کښی داخل شو . اود(آشوکا ) په شان یی دبودائی مذهب پیروه پشتیبانی و کړه. اوددینی فلسفی له نقطه نظره د(هنایانی) دمسلك په مقابل کښی پخپله په بودانی دین کښی د(مهایانی) مسلك یادنجات لویه لاره پیدا شوه . او دآرت او ښکلو صنائعو دپاره د(ګریکو بودیك) مدرسه جوړه شوه چه داهم دده دز مانی یادګاردی .

دسانسکریت ژبی ادبیات چه دپراکریتو په مقا بل کښی دبرهمنانو په لاس کښی ورکې ته نژدې شوی اودپنا کیدو پرلوری روان وو ، په یوه وار ژوندی شول ، او داسی نه چه یوالخی د بودائی مذهبی آثارو په لیکلو کښی یې لار پیدا کړه بلکه علوم اوادبیات ټول په هغی کښی راغلل ، اودشعرویلو، قصیدو ، لیکنی ،ډرام ،افسانو، نکلو، نصیحت، حکمت، ریاضی، هندسی، طبابت او نجوم د علومو ژبه شول . او دا یو خورا ستر ادبی افتخاردی چه دهغه پیدا کوونکی اومحرك کوشانیان اوپه تیره بیا کنیشکادی ، اودهغه دعمل ډګر د(ګندهارا) حوزه وه . او داستراتقلاب په هندکی نه، بلکه په لمر ختیځ افغا نستان کښی راغلی دی . سم د کوشا نیانو له پیدا کیدو سره یو نانی ژبی اورسم الخط ننزل و کړ اومخ په کښته کیدو شول، اوداژبه چه دهغی دبقااو پاته کیدو دپاره بله ګومه وسیله نه وه ، نوپه بیړه له منځه ووته ، خو دهغی ځینی کلمی چه تیتی وی د کوشا نیانو تر وروستیو وختو یعنی د (دریمی میلادی پیړی ترمنځه ) پوری لادافغانستان په پراکریت کښی رواج اواستعمالیدی . اویونانی رسم الخط چه غالباً دتقلید په ډول کوشا نیانو پخپلو مسکو کاتو کښی رواج کړی؛ تغیرومونه ،اوحتی ځینی نوی شکلونه دهغو په توریو کښی پیداشول،چه هغه داسی یومخلوط شکل؛ چه پوهان یی (یونانو کوشانی) رسم الخط بولی. خوسره له هغه هم هرشی چه ؤ ، د کوشانی زمانی تر پایه پوری د مسکوکاتو له مخ څخه نه شو لری. برعکس دخروشتی رسم الخط په مسکوکاتو او لیکنو کښی استعمال کیدو. اوپه هغو هندی مځکو کښی چه د کوشانی امپراتوری برخه وه برهمنی لیك رواج ؤ، داوی په افغا نستان کښی په کوشانی عصر کښی دادبی نحو لاتو مهمی لاری . او دمطالبو غټ غټ عنوانونه په لاندی ډول بیانوو :

سانسکریت او بودائی ادب : دموریا د باچاهانو په زمانه کښی چه بودائی دین په هند کښی رواج اوخپور شو، نو ترهغه وخته پوری چه بوالخی په خاوره کښی محدود ؤ، دهغه قوانین په دوو ژبو لیکل کېدل ، په شمالی خواؤ کښی په (مګدهی) ژبه اوپه جنو بی خواؤ کښی په (پا لی) ژبه ، چه هغی ته دسیلان ژبه هم وایی . او در یمه ژبه چه په د فتر و کښی یی رسمیت درلود اوپه دربار کښی هم معمو له وه هغه پراکریت وه . او

دآشوکا لیکنی دهغې پروجود باندی شاهدی وایی . او په دغه شان سره سانسکریت په هند کښی دبرهمنانو له لاسه محصوره او مخه یی بنده وه . د مدققینو پوهانو له جملې څخه یو ( ژوزف مانشن Joseph Mansian عالم وایی : (دسانسکریت ژبه له مسیحی زمانی څخه وړاندی دور کېدو اوزوال په حال کښی وه ، ځکه چه نه دخلکو په منځ کښی معموله وه او نه دباچاهانو ددربار ژبه وه او نه دجینی بودائی وخت دلویو مذهبی تحریکاتو ژبه وه ) او لینی داسی روایتونه شته چه په مذهبی چارو کښی دسانسکریت استعمال پخپله بودا منع کړی وُ .

پوهان په هند کښی دسانسکریت نوی ژوندون په هغو پینو او په هغو کسانو پوری مربوط بولی چه دهند نه وو ، او د هغو اصلی ځای او مبدأ افغانستان دی ، چه هغوی ( کشاترابان ) اسکائی حکمرانان اویا کوشانیان وو ، او ترهغو ټولو غوره لوی شخص امپراتور کنیشکاؤ ، چه دهند په شمال کښی دهغو فتوحاتو دسانسکریت دلوی ادبی انقلاب لارپرانیستله ، اودغه انقلاب ډګر ، نه برهمنی هند او نه بودائی هندؤ ، بلکه د افغانستان لمر ختیځی سیمی اویاد ګندهارا سیمی وی. او باید له یاده ونه باسو چه د (اندوس) غربی سیمی یعنی د ګندهارا ولایت له پخوا زمانو څخه دسانسکریت ژبې مرکزؤ ، اوداژبه دهمدغو سیمو وګړو جوړه اوپیدا کړې ده. (اوپانې نې) دا ثبوت اوسیدونکی دصرف او نحو ستر عالم ، اودسانسکریت نوم اینبی دی . دسانسکریت دپر ستر استاذ (سیلون لوی) دسانسکریت څرګندپدل په هغو لیکنو کښی بولی چه دهند په شرق کښی نه بلکه دهند په غربی خواؤ کښی شوی دی . اوددغی ژبې دپیری پخوانیو لیکنی په دوهمه مسیحی پیړۍ دسیند په حوزه کښی داسکائی حکمرانانو (کشاترابانو) له خوا شوبی دی . اودژبې دپوهانو عقیده داده چه د سانسکریت دژبې دنقل مرکز همدغه د ګندهارا علاقه وه . اوددغو سیمو بودائیانو داول ځل په عصر کښی پخپلو مذهبی اونورو آثارو کښی له پراکریت سره مخلوطه سانسکریت استعمالوله ، اوورروسته یې بیادخالته سانسکریت ژبې په استعمال پیل وکړ .

په یولوی مجلس کښی چه د کنیشکا په امرسره د ګندهارا دعالمانو او یاد (وازومیترا) یاد (پارسوا) دامپراتور دادبی مشاور تر ریاست لاندی په کشمیر کښی جوړشوی وُ په مذهبی آثارو کښی دسانسکریت ژبې داستعمالولو تصمیم ونیول شو . او د کنیشکا معاصر شاعر اوسترلیکونکی «اسوه ګوشا» دسانسکریت په مخ کی دادبی شقونو دروازه پرانیستله . اودسانسکریت دادبیاتو ترقي د کنیشکا له زمانې څخه وروسته شروع کېږی . وروسته له دې دبرهمنانو مخصوصه ژبه ، نه یوالی په دفترو کښی داخله شوه ، بلکه په عمومی ډول سره په ټولو فکری آثارو کښې داخله شوه او په نظم ، رزمی اشعارو ، وصفی اوعشقی اشعارو کښی څرګنده او په نثر ، قصو اونکلو او په ډرامو او په ناولونو کښی راغله. اود طبابت ، اوفلکیاتو اوریاضی علوموا وصرف او نحو اومنطق د علومو مختلفو څانګو دسانسکریت دادب لمن ډېره پراخه کړه او مربوطو تفسیر دسانسکریت اودهغې ادب ته نورهم زیات وسعت ورکړ .

اودهری طبقی اوهری جامعې دټولو مؤلفینو اومترجمینوژبه سانسکریت شوه . لنډه داچه ګه څه هم دکوشانیانو په ټوله دوره کښی په مسکوکاتو اولیکنو کښی لاد افغانستان پراکریت معمول اورواج وه ، خود سانسکریت له پای ته رسیدلو سره سم پراکریت تنزل وکړ اومخ پرځوړی شوه ، اود کوشانی زمانی په پای کښی اود یفتلیانو له پیدا کېدو سره سم دهغې پرمخ باندی دهېرولواو فراموشۍ پرده وغوړیده ، اوبیخی له منځه ولاړه .

کنیشکا ـ پوهان اوادیبان: کنیشکا نه یوالی دهیوادونو فاتح دی ، بلکه د پوهانو ، ادیبانو او لیکونو اوشاعرانو اودښه ذوق دخاوندانو حمایه اوروزنه به یی هم کوله ، چه له دغه کبله له علم اوادب سره دمینه لرونکو په ډله کښی شمیرل کېږی . «پارسوا» نومی مشهور ادیب پخپله د باچا ادبی مشاورؤ چه نوموړی په اصلی کښی ګندهاریؤ. او «زومیترا» نومی مشهور ګندهاری عالم هم د کنیشکا معاصرؤ. چه د علمی تبحر اومهارت له حیثه یې په کوشانی امپراتوری کښې ساری نه درلود ، او په هغه پنځه سوه کسیزلوی مجلس کښی چه د لوی کوشان شاه په امر په کشمیر کښی دمذهبی چارو داصلاح دپاره جوړشوی وُ ، دی دمجلس رئیس وُ دد غه وخت په علما وُ کښی ( مانتنګه Mantanga ) او ( ګوبهاران Gobharana) هم نامتو ګنده هاری پوهان بلل کېدای شی . اودهغه دربار نامتو شاعران اولیکونکی چه دده په مفتوحه هند کښی وو ، اوده دربار ته راغونډشوی وو ، په هغو درستو کښی ( اسوه ګوشا Acuagosha) مشهورؤ ، او ( ماتری سته Matriceta) یومشر راهب اوشاعرؤ ، چه د غه فاتح امپراتور په باره کښی بی قصیدی جوړی کړی دی . اوددغو پوهانو اوادیبانو اولیکونکو په شان ، سترستر پوهان ، شاعران اولیکونکی په ګندهارا او کاپیسا او بلخ او بامیانو اوده د هندی امپراتوری په مربوطه کښې ډېرو ، او په دغه زمانه کښی او په ور وستنیو دورو کښی په ماوراء النهر کی اودچین په هیواد کښی بودائی دین اودافغانستان دسانسکریت ادب خپور او په چینی ژبه ترجمه شول.

دمعابدو کتابخانی : تقریباً دیوزر کالو په موده کښی چه په افغانستان کی بودائی دین رواج وُ ، دپخوانی افغانستان غوره اوښه علمی اوادبی اوذوقی مرکزونه معبدونه وو ، اوهرمعبد پخپله ارامه اوساکته فضا کښی داسی ځای وُ . چه په سواو ، بلکه زرهاو راهبان ، لیکونکی شاعران اوعالمان د آثارو په لیکنه اوتالیف

اوترجمه بوخت‌وو . اودښکلو صنائعو دپراختیا او شائع کولو دپاره ددغو معبد ونو فعالیت او هرچاته څرګند اومعلوم دی . خوله بده‌مرغه هغه ادبی آثار چه‌دونو پریږدول نری‌او نازك پټ (پوست)باندی به‌لیکل کېدل ډېرېه‌یی ضایع او ورکېدل . او کله‌چه معبدونه خراب‌اوونړېدل‌نوهغه ټول ورك‌شول. په ۱۹۳۰ کال کښی چه‌لومړی ځل په‌بامیانو کښی۳۵ متری بت‌ته‌نیژدې د (G) به‌معبد کښی دونی‌پرنازك‌پوستکی باندی دسانسکریت لیکنی کشف اوپیداشوی اواوس دکابل په‌موزه کښی دی ، او یوه یرخه‌یی فرانسوی (سیلون‌لوی) مطالعه کړېی‌دې ، داآثار د۳ - او۸ مسیحی پیړۍ‌په‌منځ کښی د( کوشان‌او گوپتا) په مختلفو رسم‌الخطو اودمرکزی‌آسیا درسم‌الخط په انواعولیکل شوی‌دی . دبامیانو دسانسکریت آثار دهیواد دپخوانی ادب په محیط کښی‌زیات اهمیت‌لری ، ځکه‌چه‌د (وینایا) دکتاب لخینی ټوټی چه‌دبودائی لهٔمعروفو آثارو څخه یواثر دی دسانسکریت په متن کښی مونږ ته‌معرفی کوی، اوداثر که‌څه‌هم دفرانسوی پوهاندتحقیقات له‌رویه‌به۶مسیحی پیړۍ‌ د گوپتا په‌رسم الخط لیکلی شوی‌دی ، خوسره له‌هغه‌هم‌دروایاتو له‌مخی څرګندېږی چه‌د هغه اصلی مصنف هنه‌د کنیشکا دعصر معروف لیکونکی اوشاعر (اسوه گوشا) دی . چه‌وړاندی مودهغه نوم یاد کړ . اوله شپه‌مرغه په‌هغه‌کال‌په( گلگت ) کی‌ددغه کتاب‌څه نوری پارچی هم دیوپخوانی معبد له‌خرابو څخه کشف اوپیدا شوی . ددغه کتاب اصل چه‌په‌پالی اوچینی ترجمو کښی موجود دی (۴۰۰ - ۵۰۰) مخونه دی ، اومضمون یی زیات‌وعظ ، نصیحت اواخلاقی نکلونه‌دی .

دبامیانو د (G) معبد دکتابخانی دسانسکریت دلیکنو له مخی څرګندېږی چه‌د سانسکریت ژبه چه‌د کنیشکاله زمانی څخه وروسته ادبی صحنی ته‌راغلې‌وه تر۸ مسیحی پیړۍ‌اود ۹ مسیحی پیړۍ‌ تر اولو وختو پوری اوپه‌دې سیمو کی داسلامی مقدس دین دخپرېدو تروختوپوری یی دافغانستان په‌نیمایی‌لمر ختیځو برخو کښی دوام درلود .

اسکائی، تخاری، سغدی: لکه چه‌دهندو کش په‌جنوبی‌خواوو

---

کښی له‌ویدی، زبی څخه پراکریتونه اشتقاق شول ، اودهغو له جملی څخه‌دمسکوکانواولیکنو دشاهدی‌ۍ‌له‌مخی‌به‌یونانوباختری اوکوشانی دورو کښی په‌دې سیمو کښی‌دهغو عمومیت اورواج ثابت دی ، ددغه غږه دسلسلی یه‌شمالی برخو کښی دزندګۍ‌اوستا له‌ژبی څخه لخینی څانګی پاته‌دی ، چه‌هغه په تخار ستان کښی‌د پامیر په‌لهجو کښی‌پیدا کېدای‌شی، اودهغو له‌جملی څخه‌پراکیتی ده چه‌یه‌جنوب کښی‌یی‌عمومیت مونډلی‌اودوام‌یی کړی‌دی، اویوه څانګه‌یی چه پرټوی ده په‌شمالی سیمو کښی‌یی ترقې کړې ده، چه‌پخوامولهٔ هغی‌څخه‌بحث وکړ په‌دې کښی شك‌نشته چه کله‌چه دپارتیانو سیاسی مرکز له‌خراسان څخه‌ایران‌ته‌نقل‌شو پرشوی ژبه له‌هغو سره ایران ته‌ولاړه، خوددغی ژبی اصلی موجودیت له‌منځه نه‌ولاړ،اونه‌یواځی‌به‌کوشانی‌دوره کی‌بلکه دساسانیانو په‌زمانه کښی هم په‌خراسان کښی په‌هغی خلك کړېدل ، دوې پیړۍ‌ ترمیلاد له‌مخه : کوم‌نوی‌شی چه دسیتی له‌قبیلو(ازی‌ئی، یازیانی ، تخاری ، ساکارولی ، یوچی) سره افغانستان ته راغی هغه‌دهغوژبی‌دی،اوبه‌ادبی محیط کښی‌داسکائی‌اوتخاری‌په‌نومانو زیاتی یادی اوبیژندلی کېږی. ژب‌پوهان اسکائی ژبه‌دآریائی کورنۍ‌ دژبو یوه لمرختیځه څانګه‌بولی ، اودهغې بقایادپامیر په لخینو لهجو کښی پیدا کېږی . تخاری ژبه چه‌د هغی اصل د دپروفیسر (میه،سیك سیګل) دګوښښونو په‌اثر روښانه‌شوی‌دی دسیتی دلخینو قبیلو ژبه‌ده چه کوشانیان هم‌له هغوځخه‌دی . اوپه اول کښی یی هغه (شمالی آریائی ) ادشرقی آریائی هم بلله، اوپه‌پای کښی همدغه دتخاری نوم پرې کیښودل‌شو ، اودا ژبه له‌هندو اروپائی‌څخه یوه لجه ده ، اوعجبه داده چه‌په(آریائی) کورنۍ‌ کښی‌نه ، بلکه د(ایتا لوسلتیك) په کورنۍ‌ کښی د « سنتم»دډلی جز هم کېږی .

اوددې ژبی په‌څواړ کښې لاډېری مطالعی اوخېړنی نه‌دی شویی، خو کوم‌وخت چه‌دهیوادونوادبیاتو دتاریخ په‌باب کښی خېړنی کېږی ، دافغانستان دژبو په‌جمله کښی به‌دهغې په‌خواوشا کښی هم‌زیات بحث اوخېړنه وشی .

زیات ګمان کېږی چه‌دزنداو پرټوی د لهجو اود اسکائی اوتخاری لهجودسره ګډون له کسبله ، سغدی ژبه داکسوس په خواوشا سیمو کښی پیدا شوی اود امو دسیند په‌دواړو خواوو کښی دباختر په‌سغدیان کښی خپره‌شوې‌ده . « په‌دې ځای کښی زموږ مقصد ددې ژبی تشکیل‌اوجوړېدو ته اشاره کول دی» .

او « ګریستن سن» داسی عقیده لری‌چه‌داژبه‌دوهمی‌مسیحی پیړۍ‌ پخواوشا کی ترخوپیړیوپوری‌دمرکزی آسیابین‌المللی ژبه وه . اودباختر اوماوراء النهر بودا یانواونستوریانو په‌هغې کښی‌ډېرآثار لیکلی‌دی،ترخوچه‌په‌دریمه‌مسیحی‌پیړۍ‌ کښی(مانی) له‌سریانی رسم‌الخط‌څخه «سطرنجیلی» رسم‌الخط اختراع کړ . اوله‌هغه وروسته ډېرآثار په‌سغدی‌ژبه ولیکل شول ، اود (ایغور) اودمرکزی آسیادنورو قبیلو دلیك مبدأ اونوی‌رسم‌الخط شو .

دافغانستان دادبیاتو په‌تاریخ کښی‌دسغدی‌ژبی یادونه زیات اهمیت‌لری ، ځکه‌چه‌ددری ژبی په‌بنا اوتشکیل کښی هغه ښکاره دخالت‌لری اوزیات ګمان داسی کېږی چه دپرټوی اود سغدی ژبی دګډون اودزند دلجهو دتاثیر په‌اثر په باختر اوتخارستان اوپه ماوراء النهر کښی دری‌ژبه منځ ته‌راغلې‌ده ، اوپخپل ځای کښی به‌چه ددری ژبی دپیدا کېدو بیان او شرح کېږی د هغې په‌بات کښی مفصل بحث وکړو .

ا ټمه برخه:

افغانستان اوساسانی پهلوی ادب : دهغه انکشاف له کبله چه د پهلوی ژبی اورسم الخط په باب کښی په عام ډول دهغې دماهیت اومنشأ له نقطه نظره اوددغی کلمی دپیدایښت اومعنا له نقطه نظره شوی دی ،مونږ خپلی مطالعی اوخیړنی پردوو برخو وېشو . لکه چه پارتی پهلوی اوساسانی پهلوی ، یا دخراسان پهلوی او دفارس پهلوی دوې ژبی دی ، چه په دوو ځانته زمانو او په دوو ځانګړیو ځایو اوپه دوو مختلفو منشاوو پوری اړه لری ، خو دژبو تطوراتو اوادبی فعل اوانفعال اودزمانو پیوستګی هغوی سره نژدی او وصل کړی اوتینګه رابطه یی دوی په منځ کښی پیدا کړې ده .

په شپږمه برخه کښی وویل شول چه پارتی پهلوی او یا پرتوې ژبه دمکان له حیثه په خراسان پوری مربوطه ده ، اود زمانی له حیثه یردرو پیړیو ق،م اوپردریو مسیحی پیړیو باندی حاوی ده ،اودمنشأ له حیثه په زند اویا اوستائی ژبه پوری زیات ارتباط لری . او ساسانی پهلوی له دغو در یو حیثیتو نو څخه ځانګړی موجودیت لری ، چه ځای اومکان یی فارس ( دایران جنوب غربی ولایت) دی ، اوزمانه یی له دریو مسیحی پیړیو څخه وروسته تر اومی هجری پیړۍ پوری ده ، او منشأ یی پخوانی هخامنشی فارس دی ، اوپخپل ځای کښی هرو مرو له اوستائی ژبی سره زیات تړدپوالی لری . په همد غه شان د دغی پهلوی رسم الخط هم یوله بله توپیرسره لری .

وروسته له دې چه دغو دوو ژبو جلا والی ددغو پور تنیو دریو مسئلو له امله راغلی دی ، دهغو دنژدیوالی په باب کښی دوی نوری مسئلی هم شته چه د کتنی اوغور وړدی، یوه داده: چه وروسته له هغه چه د پارتی دولت دادارې ثقل مرکز له غربی خراسان ایران ته نقل شو ،نوخراسانی پهلوی دساسانیانو پر ژبه باندی د پرتاثیر وغور زاوه ، اودهغه مملکت په مرکز او شمال کښی خپره شوه ، اودهغې د پری کلمې دپارس په پهلوی کښی ورګډی شوی .

دوهمه داده : چه دساسانیانو دلوړ توب اوترقی په دوره کښی هغه وخت چه د کوشانی زمانی په وروستیو و ختو کښی یی په خراسان باندی سلطه ومونده، نوساسانی پهلوی د افغانستان په شمال غربی سیمو کښی تیته اوخپره شوه اوپه سیستان کښی یې د پره اوزده زمانه دوام درلود . ساسانی پهلوی د ساسانیانو دحلورسوه کلن سلطنت په موده کښی، په ایران شهر یعنی دایران په هیواد کښی د پره ترقی و کړه ، او د ساسانیانو په عصر کښی اوهغو څخه وروستو زمانو کښی په دغه ژبه کښی د پر آثار لیکل شوی دی . خوسره له هغه هم دلحینو علتو له کبله چه لوی علت یی دهغی رسم الخط نارسائی وه ، ځنګه چه بنائی هغو مره آثار له هغې څخه نه دی پاته شوی . بل داچه وروسته به هم بیان وشی ، چه اول خو بخپله په ساسانی دربار کښی خراسانی (دری) ژبه پرهنی باندی غوره اوخوښه کړه شوه . او وروسته ددریو لو مړیو هجری پیړیو په موده کښی، سره له دې چه آثار لاهم په هغی کښی لیکل کیدل او دایران دهیواد ادبی ژبه وه، خودعربی په مقابل کښی مخ په ځوړی او کښته والړه .وروسته له هغه که څه هم دمغولو د یرغلو او استلا تروخته پوری دایران په غربی بر خو کښی مخصوص تالیفات په هغه کښی کېدل ،خودغزنویانو اوسلجوقیانو دفتوحاتو په وختو کښی خراسانی دری ژبه دوهم ځل بیا ایران ته ورغله ، اوله څلرمی هجری پیړۍ څخه وروسته یی دعلمی او ادبی ژبی په حیث دساسانی پهلوی ځای ونیو .

پخپله دساسانی عصر له پهلوی آثارو څخه ، پرته له ځینو ډبرینو لیکنو څخه ، اوپه مذهبی ادب کښی پرته د اوستا له نوی، تدوین څخه چه هغه هم زیاتمن شوی اولاس پکښی وهل شوی دی ، نور کوم مهم څیزنه دی پاته . او کوم کتابونه چه په ساسانی پهلوی ،لیکل شوی دی اواوس یادهغو اصلی متن ، او یا دعربی اویا پارسی ترجمی په صورت ، اویا یوالحی دپهلوی ژبی په نامه مونږ ته رارسیدلی دی ،په عمومی توګه دساسانیانو له سقوط څخه وروسته اویاداسلامی زمانی په اول وخت کښی لیکلی شوی دی . اوترشپږمی هجری او (۱۵ مسیحی) پیړۍ پوری د هغو لږ را اوزده شوې اودوام یی کړی دی . او ددغو آثارو موضوع یامذهبی اویا اوستائی اوتاریخی شیان اوزیاتره لارښودنه او نصیحت دی،چه په کلی ډول هم د دین له نقطه نظره اوهم په دقصی او نکل د نقطه نظر اوستائی مقررات اوروایتونه سره له نویوخانګو په لنډ او کوتاه ډول تکرار کوی ، سره له هغه هم هغه ټول یوه ډپره مهمه ګړی ده. اوپه عربی ژبه دهغو ترجمې چه د ابن مقفع او دهغه دمعاصرینو اوپیروانو په زمانه کښی شروع شوې دی داسلامی لیکو نکو په افکارو کښی یی که ایرانیان ، او که افغانان او که عرب اونور دی ډپر تاثیر کړی دی .

که دافغانستان دادبیاتو تاریخ په خصوصی ډول سره وکتل شی، نوثابتیږی چه پهلوی ژبه مونږ د هیواد محلی ژبه نه ده اونه د دې خاوری دعامو وګړو ژبه بلله کیږی . او کوم آثار چه په دغه ژبه کښی شته هیڅ یویی دافغانستان په کوم مشخص لیکونکی پوری تعلق نه لری . اوسره له هغه هم ددې هیواد پوه اوعالم اشخاص داسلامی زمانی په اوله ووختو کښی او کم له کمه تر (٦ هجری پیړۍ پوری) پهغې پوهیدل ،اودهغه قطعی دلیل هغه حماسیات دی، چه خراسانیانو شاعرانو او لیکوالو په تیره زموږ دبلخ پوهانو ګشتاسپنامی اوشاهنامی او زریرنامی لیکلی دی ،اوپه یو واریی باستانی حماسی روایتونه سره دهغو له ټولو جز ئیاتو (دری) ژبی ته داخل کړل .او که هر څو مره دا کار دخاطرو له مخی شوی وی ،دپهلوی تحریری آثار په هغه دخل لری

وړاندی موووېل ، کوم وخت چه د کوشانیانو نفوذ خراسان ته راغی، ساسانی پهلوی ژبه اورسم الخط په خراسان او سیستان کښی خپاره شول . او په دې کښی هم شك نشته کله چه د یفتلیانو اوساسانیانو په منځ کښی جګړی پیښی شوی ، د هغو له کبله دساسانیانو سیاسي او اداری نفوذ پر شاو و هل شو . خوسره له هغه هم پهلوی ژبه اورسم الخط د هیواد په منځ اودهندوکش په جنوب اودافغانستان په لمرختیځو برخو کښی او دګندهارا په ناوه (دره) کښی هم خپاره شول .

په څلرمه برخه کښی درسم الخطودبیان په اخیر کښی موووېل چه دیونانی درسم الخط شکل د کوشانیانو په عصر کښی ورو، ورو تغیر وکاږه، او په عوض یی خروشتی رسم الخط تر پنځمی مسیحی پیړۍ پورې دوام وکړ . او په دې ترتیب سره په افغانستان کښی دپرثوی رسم الخط عمومیت یومنطقی اوحسابی کار دی، چه له پنځمی مسیحی پیړۍ څخه وروسته، هغه وخت چه خروشتی لیك له منځه ووت، نوساسانی پهلوی دیفتلیانو د مسکوکاتو پرمخ باندی ځرګنده شوه . اویفتلی مسکوکات یوه ښه وسیله چه په پنځمه پیړۍ کښی دافغانستان پرادبی اوضاعو باندی رڼا اچوی اود هغو دشاهدۍ له مخې ځرګندیږی چه سانسکریت او برهمنی رسم الخط اوپرثوی ژبه اورسم الخط دواړه یوړ نګه رواج اومعمول وو . لکه چه دلحینو عنوانو اوالقابو له مخې لکه (خوتاو) چه په پرثوی کښی (خواتای) اوپه ) دری ژبه) کښی (خدای) او (خدا) شوی دی او د (باچا) په معنا دی ، ښه ځرګندیږی چه داژبه په یفتلی دوره کښی دهندوکش په شمالی برخو کښی مروجه وه، اودهغې اودپرثوی په منځ کښی ادبی فعل اوانفعال ؤ. په حقیقت کښی یفتلی مسکوکات دایران له ساسانیانو اودهندله ګوپتایانو سره دپنځمی پیړۍ دافغانستان د افکارو دتصادم اوشخړې نماینده دی . او په پای کښی دلمر خاته له خوا برهمنی اوسانسکریتی رسم الخط اوله غربی خوا پهلوی ژبه اورسم الخط زموږ هیواد ته راغلل، اوله شمالی خوا څخه سغدی ژبه راخپره شوله . او په همدغه شان سره دیفتلیانو او رتبیلانو یاکابلی برهمن شاهانو څخه وروسته دادب عمومی خط طودوام درلود . چه دمسکوکاتو پربوه خوا ګندهاری پراکریت سره له برهمنی یاسانسکریت رسم الخط چه په (دیوانا ګاری) خط موسوم دی، لیکلی شوی دی، اوپربله خوا یی پهلوی ژبه اورسم الخط یا یوالحی دهغی رسم الخط لیدل کیږی . او په ۳ او ٤ هجری پیړیو کښی دصفاریانو په زمانه اود غزنویانو په اولو وختو کی په کابلستان کښی تعقیب شوی دی . او پهلوی رسم الخطله مسکوکاتو څخه دمهرونو او غمیو پرمخ باندی زیات ؤ، اوپه ۳ هجری پیړۍ اود٤ هجری پیړۍ په لومړیو و ختونو کښی دهیرمند اوافغانی سیستان دحوزی په ښارونوکی د مهرو او غمیو پرمخ باندی استعمالیده .

## نهمه برخه :

دری ژبه اودهغی ادبیات : تولی پخوا نیۍ بر خی دیوې مقدمی په څېر دا ښکاره کوی چه داکسوس اواندوس تر منځ مخکی دهندو ایرانی کورنیو دژبودپرورش ځای ؤ، او په ترتیب سره ویدی ژبه، زند ژبه، اوستائی ژبه، دګندهاری پراکریت ژبه، سانسکریت، کلاسیك ، پرثوی ژبه، سغدی، اسکائی تخاری، اوساسانی پهلوی ژبه، اودهغو هانګواوفروعاتو له یادو نیۍ چه دپامیر دغلچه دلی په ډول اونورستانی چه تراوسه لاهم شته ، دوره په دوره داسلام زمانی ته رانیژدی شوی دی . او کوم وخت چه لویو کوشانیانو په افغانستان کښی سقوط وکړ ، او په ایران کښی ساسانیانو ترقی وکړه او پر خراسان یی هم سلطه وموندله، نوساسانی پهلوی ژبی سره له هغه زیاته تاثیره چه له پارتی پهلوی څخه یی اخیستی ؤ، دافغانستان په شمالی اوغربی برخو کښی او په سیستان کښی یی لار پیدا کړه، اودهیواد په نورو ځایو کښی هم تیته شوه، لکه چه وموليدل اوښکاره ده د یفتلیانو په دوره کښی اوله هغه وروسته داسلام تر زمانی پورې دری، څلور پیړۍ پراکریت اوبرهمنی، سانسکریت او دیونا ګاری او پهلوی ژبه اورسم الخط په افغانستان کښی رواج وو . کوم شی چه په دې مبحث یعنی د (دری) ژبی دپیدایښت له نقطه نظره مهم دی، هغه په یفتلی دوره کښی دسغدی ژبی انبساط اورواج اوله ساسانی پهلوی سره د هغې زیات تماس دی، چه په نتیجه کښی پردری ژبه باندی تاثیر لویدلی دی .

دری ژبه : دری ژبه دلغت له حیثه په دوه ډوله ترجمه شوې ده یوه معنایی د (در) دکلمی په اساس ده چه هغه د (دروازی) او (دربار) ژبه بولی، بله معنایی (درې) ته دنسبت په اساس ده، چه غرنیۍ اوددرو ژبه ده . داتوجیهات پر دقاموسو او دلغت دکتابو په اساس رواج اومعمول دی، برهان قاطع د (دری) کلمه په څلور ډوله ترجمه تفسیر کوی :

۱ - وایی چه دا څلورو ښارونو د اوسیدونکو لکه دبلخ بخارا، بدخشان اومرو لغت دی .

۲ - لحینی وایی چه دکیان ددربارسرپیو په هغې خبری کولی.

۳ - لحینی اشخاص وایی : چه دبهمن اواسفندیار په وخت کښی چه له لېری لېری اطرافو اولېری وطنو څخه به دده در بار ته راتلل اودیواوبل په زبه به نه پوهیدل، نوپوهانو دنوموړی بهمن په امرسره دفارسی ژبه وضع کړه او (دری) نوم یې ور باندی کښېښود .

٤ - داچه درې ته یی منسوبه بولی، لکه (کبك دری)، او دلغاتو دخوزوالی له کبله هم کېدای چه دری وبلله شی، لحکه چه دفارسی ژبی مهم لغات دری دی .

ددغو محلورو معناګانو اوتفسیرونو لنډ مطلب دادی چه ددریژبی منشأ اودروزنی اوپرورش ځای خراسان اوماوراءالنهر وو، او احتمال لری چه دساسانیانو پهزمانه کښی ددربار ژبه هم وه . (پهدې کښی هم شك نشته چه په ربښتیا سره کیان هماغه دزر تشتر بلخی معاصر باچاهان وو، اود(ګاتونو) سرود دهغوله ژبی څخه نمایندګی کوی . اوکه دځینو نظر یاتو په مطابق لههغوڅخه مراد هخامنشیان اویاساسانیان وی ، او هغو هربوه ځانته ژبه درلودله ،لکه پخوانیږ فارسی او یا پهلوی . (او دبهمن نکل او دهغه دژبی جوړولو امر بی له دې چه یوه افسانه وګڼله شی بل څه نهدی . ) څرنګه چه د(دری) ژبی په خواوشا کښی نودا دټولو نظریاتو لنډیزدی ،دهغی پهباب کښی به پوره څیړنه اومفصل بیان وکړو .

ددری ژبی مبدأ اودهغی دروزنی ځای : د دری ژ بی ډپر

---

پخوانی نظم اونثر چه تراوسه پوری لاس تهراغلی دی ، اویا په افغانستان او یا ماوراءالنهر کښی پیدا شوی دی ، دبادغیسی حنظله اودمحمد بن وصیف (ساکزی) اشعار دی، چهد دریژبې ډپر پخوانی شعر هغو ته منسوبوی ، اودوی دهرات او دسیستان دی، اوددې ژبی ډپر پخوانی منثور آ ثار ، یاپه خراسان اویاپه ماوراءالنهر کښی لیکل شوی دی . (دابی منصوری د شاهنامی) مقدمه ،چه په ۳٤٦ هجری کښی دابو منصور محمد عبدالرزاق په نامه ا بو منصور المعمری لیکلې، اودتاریخ طبری ترجمه ، چه په ۳۵٦ هجری کال کښی دمنصور بن نوح سامانی دوزیر (بلعمی) لهخوا لیکلې شوې ، دساما نیانو په زمانه کښی په ماوراء النهر کښی منځ تهراغلی ده . دغه زمانی تهنژدی په ۳۷۲ هجری کښی (حدود العالم) نومی کتاب چه مولف یی معلوم نه دی ، د آل فریغون ګوزګانان دیو امیر ابوالحارث محمد بن احمد د پاره لیکل شوی دی . او ابوالمؤید بلخی ګرشاسب نامه او عجائب البلدان خیل دوه کتابونه په دغهژبه لیکلی دی،خو له بده مرغه دهغو اصل ورك اوله منځه تللی دی ، مګر دسیستان تار یخ او مجمل التواریخ دهغو دوجود شاهدان دی ،لکهچه لههغو څخه بی ځینی فصلونه نقل کړی دی. اوشر ګندښزی چه ددری ژبی پو مبنیږ منظومی او منثو ری پارچی چه اوس شته په ٤ هجری پیړیږ په افغانستان او ماوراءالنهر کښی پیدا او لیکلی شوی دی . باختر اونیم روز زابلستان او ماوراءالنهر د دری ژبی مبدأ او د هغی د روزنی او پرورښت ډومبنی ځای دی . او دا شواهد چه عین حقیقت ګڼل کیږی نورو دلیلونو ته حاجت نهلری اوسره له هغه دسغدی اوپرتوی پاخراسانی پارتی پهلوی سره چه دهغې پارچی دتورفان پهخرابو کښی کشفاوپیدا شویدی ، ددریژبی دلغاتو زیاتشباهت اوپهافغانستان کښې ددری دنورو لهجو لکه دهیری اوساکزی اوزابلی جغرافیائی ساحه، اودافغانستان او ماوراءالنهر

پهلهجو کښې د دری ژبی خالصو لغاتو پیدایښت او وجود اوپه تیره بیا زمونږ پههېواد کښې ، اوداسکائی اوتخاری ژ بو تاثیر چه په افغانستان کښی مروجی وی اودسغدی او سا سانی پهلوی ادبی فعل اوانفعال چه په افغانستان کښی راغلیدی اوپه دریژبه کښی بی تاثیر کړیدی .اوپه پای کښی لهافغانستان څخه ایران ته ددری ژبی تلل اوانتشار، دساسانیانو په عصر کښی چه یوالحې ددربار ژبهوه اوله هلرمی پیړیږ څخهوروسته چه د پهلوی ژبی پرځای دهغهپهیواد علمی اوادبیژبهمشوه، داټول هر یوپرخپل ځای یوقوی اوکلك دلیلدی اوثابتوی چهافغانستان او ماوراءالنهر ددری ژبی ځانګو اودروزنی ځای وو. اوسچهددری ژبی داول پیدا کیدو اوروزنی ځای معلوم اووپیژندل شو ، غواړو چهدهغې دمنشأ په خواو شا کښی بحث اوخیړنه وکړو . دری فارسی دآریائی ژبو په کورنیږ کښی یوهسلسله لری ،چه پخوانی شکل یی هخامنشی فارسی، اومنځنی شکل یی ساسانی پهلوی ده او نوی صورت اوشکل یی اوسنیږ دریفارسیژبهده. جغرا فیائی مبدأ او دپرتوی ژبی اوسغدی ژبی دهو جودیت رو ښانه کیدل اود تورفان لهخرابو څخه ددغودووژبو دادبی آثارو را پیدا کیدل اوپرساسانی پهلوی باندی دپرتوی دادبی نفوذ قطعی ثبوت ، او لهپرتوی اوسغدیسره ددری ژبی تینګ ادبی ار تباط او اړه په اوپه سغدی ژبه کښی ددری ژبی د ډپرو لغتو وجود اوتشخیص اوپهمعاصر افغانستان کښیددری ژبی شته والی (موجودیت)او پهایران کښی دپهلویژبی موجودیت او داسکائی پهتیرهدتخاری ژبیتاثیر پردریژبه باندی ،داټول یولړ د لیلونه دی چهدهغو په اساس ددریژبی منشأ بهدوو ژبو پرتوی اوسغدی پوریارتباط پیدا کوی چههغه دواړی هم پهبلخ او بخارا اوپه تخارستان او سمرقند کښیمعمولی اورواج وی . تخاری اویاکوشانیژبه چه ددې سیمو یوه بله ژبهده سرهلههغه تاثیره چه دسغدی ژبی په اصلی جوړښت ( ساختمان ) کښی ئی کړی دی ددری ژبی به جوړیدو اوتشکل کښیهم بیتاثیره نهده، لکه چه ځینی پوهان داسی نظر یات لری چه (دری ژبه) په اصل کښی د (تخاری) مخففه ده .

اوچه پهاوله هجری پیړیږ کښې د دری ژبی دجغرافیائی مبدې اوډومبنیږروزن ځای (پرورشګاه) له نقطه نظره اوهم دنویو کشفیاتو له مخی او په سغدیژبه کښیددې ژبی دلغاتو دپیدا کیدو له جهته ، چهاوس هغه لغات پهدری کښیشته اوپه ساسانی پهلوی کی نشته ، څرګنده دهچه دری ژبه پههیڅ ډول وساسانی پهلوی اوهخامنشی فارسی ته نهږسیږی اونه ارتباط ورسرهلری ، بلکه په پرتوی اوسغدی پوری ارتباط اواړهلری. اوتخاریهم په هغی کښی بیتاثیره نهده . اودا دې واړه ژبی دآمو سیند په دواړو خواو کښی اویا پهباختر اوتخارستان او ماوراءالنهر کښی د مراتبو په اندازه دهو پیړیو په موده کښی

تراسلام له‌مخه ددری‌ژبی په‌جوړیدو اوساختمان کښی دخل لری.

اوچه‌سغدی ژبه څو پیړی‌ر دمانویانو او بودا ئیانو اوحتی دنسطوری ترسا یانو دهغبی آثارو په لیکلو کښی معمو له او رواج‌وه، او دمنځنی‌ر آسیا علمی‌ژبه ګڼله کیده نو زیات ګمان داسی کیږی چه‌د دري ژبی دمنشأ اساسی‌رکن به په همدې ژبه پوری اړه لری .

اوځینی پوهانو داسی‌خیال کړی‌دی چه‌دری ژبه یومرکب معجون‌دی چه‌له‌ساسانی پهلوی‌ژبی اودعربی ژبی له لغاتو څخه جوړه شوې ده .

اوحقیقت دادی چه‌دحقیقی دری ژبی له‌صفاتو څخه یو صفت دادی چه‌عربی‌ژبه په هغی کښې دخالت نه لری ، اودی و طن ته دعربی ژبی له راتلو څخه څوپیړی‌ر پخوا په دې هیواد کښی جوړه اوپیدا شوې‌وه .اوله بلی‌خوا دری‌ژبه‌داسی یوه ژبه نه‌ده چه‌دساسانی پهلوی ژبی له ورکیدو څخه‌وروسته پیدا شوې‌ده ، بلکه دری اوپهلوی هغه دوه ژبی‌دی‌چه دواړه سره برابری او یووخت یوه‌په‌افغانستان کښی اوبله په‌فارس کښی پیداشوې ده ، اویو رنګه‌یی ترقي کړې‌ده اوپه‌دوو معینو زمانو کښی له‌خپلو مبدو.څخه ددغه دوو مملکتو په خاورو کښی خپری شوی دی .

اود دغو دوو ژبو دیوې بلی‌ته دور توالی او شباهت او دلغاتو دارتباط اوګډون اساسی‌عامل برسیره دکورنی‌ر پر نژدېوالی، دهغو انځو لتوب او معاصر والی او دیوې بلی په خاوره کښی دهغو خپرېدل دی. او په‌دې کښی هم شك نشته چه‌منظو می او منشوری پارچی چه به دری ژبه کښی اوس لا س ته راغلی دی دپخوانیتوب اوقدامت له‌نقطه‌نظره له‌دریمی هجری پیړی‌ر څخه تیری نه‌کوی ،خو که دغه‌آثار ، په‌پهلوی ژبه‌کښی له معاصرو کتابو سره‌پرتله اومقایسه‌شی نود دری‌ژبی سلا ست او پختګی په‌پهلوی باندی ښه‌څرګند دی . اودامنلې خبره‌ده چه‌دری ژبه بی‌دصفاریانو او ساسانیانو له معاصری سا بقې څخه په‌یوه وار منځ‌ته نه‌ده‌راغلې، بلکه څوپیړی‌ر پخواوه، خوله‌بده مرغه دهغې زمانې معلومات نشته. او که‌دابن مقفع اوابن‌ندیم خبره ونښتیا شی‌چه دوی وایی چه دری ژبه دساسانیانو ژبه لکه دعربی په متونو کی شته او حتی چه په دری ژبه د ځینو فقرو نسبت یی وساسانی باچاهانو ته‌هم کړی‌دی ،نوله‌دغه کبله منل کیدای‌شی چه دری ژبه دوه یادوه نیمی پیړی‌ر تر اسلام پخوا تر څلر می اودریمی مسیحی‌پیړی‌ر پوری رسیږی .اوباید دې ته‌نظر وکړو چه‌یوه‌پیړی‌ر تر اسلام پخوا اویو احتمال داسی دی چه په اوله هجری پیړی‌ر کښی په‌ابتدائی حال کی وه او ابتدائی شکل‌یی درلود .چه‌بنایی هغه دسغدی اوخراسانی پارتی پهلوی متوسطه شکل وبلل‌شی. اوپه‌دې کښی هم‌شك‌نشته چه‌د کوچنو کوشانیانو اویفتلیانو له‌زمانو څخه‌وروسته چه‌ساسانی پهلوی په خراسان کی رواج ومونډ نو پرهغی باندی یی تاثیر واچاوه او هغه‌یی تقویه کړه .

وړاندی مو وویل چه‌پرپهلوي باندی ددری ژبی پوځوالی اوسلیس‌والی دهغو دووژبو دمعاصرو او انځولو آثارو له‌مخی څرګندېږی هرکله چه‌دپهلوی پخوانیتوب (قدامت) له څلر می هجری پیړی‌ر څخه‌وړاندی دساسانیانو ددورې ترشروع کیدو پوره ښکاره او واضح دی ، نوعقل او منطق حکم کوی چه دری هم‌داسی‌سابقه لرله، چه‌په‌څلرمی‌پیړی‌ر دغه‌ډول سلاست او پوخوالی ته رسیدلی ده ، اوپه هغه‌مهال کښی له پهلوی څخه وړاندی شوې‌وه .اوداهم‌باید له‌یاده ونه‌وزی چه پهلوی دډول ډول علتونه‌آمله چه‌لوی علت‌یی دهغې د رسم‌الخط نیمګړ تیاوه هروخت له‌خطرسره مخامخ‌وه.

په‌دریمه‌مسیحی‌پیړی‌ر کښی مانی پخپله ساسانی ژبه کښی داعیب‌ولیدو اوورته فکر بی‌شو ، اودخپلو مذهبی آثارو دپاره یی له‌سریانی لیك‌څخه رسم‌الخط اختراع کړ . اود ساسانی عصر زردشتی‌موبدانو دمذهبی آثارو دلیکلو دپاره د (دین دپیری) لیك‌اختراع کړ. اوسره له‌هغه هم ځینی آثار چه‌په پهلوی کښی لیکل‌شوی دی اوپه‌پرې‌دساسانیانو له‌زمانی‌څخه وروسته‌لیکلی اوپیدا شوی‌دی درسم‌الخط دنیمګړتیا له کبله او د لیکونکو دناپوهی‌ر له کبله له غلطیو څخه‌پك دی، اوځینی‌یی ډېر ګران دی. اوپرساسانی پهلوی، باندی ددری‌ژبی پختګی له‌دې‌څخه‌هم څرګند ېږی چه‌دغه دواړی دعربی ژبی دیر غل په‌مقابل کښی راغلی وی، خوپه‌نتیجه کښی پهلوی‌ژبه په ایران کښی په څلرمه هجری‌پیړی‌ر کښی په‌عومی ډول له منځه ولاړه او آ ثارنه په لیکل کیدل .اوپه اوومه‌پیړی‌ر کښی دایران په مغرب کښی هم یومخیځه ورکه‌شوه .اوحال دا چه‌دری‌ژبه په‌خراسان کښی چه پرخپل حال‌پاته اومخ پرانکشاف‌وه اوهلته هم‌دعربی ژبی نفوذ خیورشوی وو، اوترڅلورمی هجری‌پیړی‌ر پوری دری‌ژبه یوالخی په‌افغانستان اوماوراءالنهر کښی‌وه او دیوه علمی او پخی ادبی او سلیسی ژبی په‌خیر منظوم او منثور آثار په هغی کښی لیکل کیدل ،په‌دغه‌وخت کښی په ایران کښی‌نه‌وه رواج ، داسی‌چه په دغه‌زمانه کښی یوشعر اویوه‌رساله هم‌په‌هغه مملکت کښی په دې ژبه نه دی لیکلی‌شوی اونه لیدل شوی‌دی . باید دې ته‌مونږ وګوروچه که‌ساسانیانو په خراسان کښی دخپل نفوذ له خپریدو څخه‌وروسته په‌رښتیا سره (دری)ژبه په‌خپل دربار کښی رواج کړې‌وی اوپخپل دربار کښی یی‌دیوې تشریفاتی‌ژبی په‌څېرمنلې هم‌وی، خو دومره عمومیت یی‌نه‌درلود ، اودهغه هیواد علمی او ادبی ژبه‌لکه چه‌مووېل پهلوی‌وه، اوپه‌طبری ژبه یی هم لیکنی کولی . او دمغولو دراتلو اواستیلا ترزمانی پوری دایران په غربی برخو کی‌پهلوی کمه‌کمه پاته‌وه ،اوکله چه دساسانیانو

دزمانی په وروستیو وختو او دغزنویانو ددوری په اولو وختو کښی په (ری) او (جبال) او (گرگان) او (اصفهان) کښی زمونږدخرانی دباچاهانودفتوحاتو له املهدافغانستاندری ژبی دنفوذ او وړاندی تګ لاره زموږ غر بی گاو نډی هیواد په خاوره کښی خلاصه اوپرانیستله شوه نو دایران په غربی برخو کښی پهلوی ژبه سوکه سوکه پرشا وهلهشوه ، اوله څلورمی هجری پیړۍ څخه وروسته دری ژبی دیوی علمی ژبې په حیث دپهلوی ځای ونیو . او دمرحوم ملك الشعرا بهار په اصطلاح (پرعراقینو باندی دسلجوقی دولت لهتسلط څخه وروسته داکار زیات ټینګشو ) یعنیدایران پهټول هیواد کښې چه دعراقعجم په نامه یاده کیده ، سر تر پایه دری ژبه خپره شوه .

## دفارسی لومړنی ادیبان :

لکهچه وړاندیووویلشوو، چه پهمختلفوتاریخی دورو اوپه اوستائی اوپهلوی ادبیاتو کښی شعرو، خوپهدې باب کښی چه ددری فارسی پرومبنیشعر کوم اوچاویلی دی ؟ خبری ډېری دی . کهدری ژبه موږ داشکانی پهلوی ژبی ترشا او پـه هغې پسیی ونهبولو، اودهغو کسانو عقیده چه وایی : چه اشکانی پهلوی همدغه دریژبه ده، ومنو، نوددې ژبی ډېر پخوانی او زاړه نظمی او نثری آثار تردوه زره کاله پخوا زمانو پورې رسېږی، اودهغو نخښه د(آسوریك دونی ) منظومه او دمـلك اوباغ دوه قبالیدی، چه دهوسېر پرځرمنی باندی لیکلی شوی دی (۱۲۰ق،م کال) . اوپرته لهدې څخه د(دری) پارسی ژبی ډېر پخوانی شعرویونکیاودهغی داشعارو پهباب کښی ډول ډول عقیدی اوډول ډول ویناوی شتهدی، او پهدې ځای کښی مونږ دخاور پیژندونکو اودمعاصرو پوهانو دتحقیقاتـو ورو ستنې عصارهاومطلب چهدټولو محققینو اوپوهانو لهخوا منلشویدی بیانوو : یوه نکته چهباید پهنظر کښی ونیوله شی داده، چـه دهجائی اشعارو پهباب کښی باید له عروضی اشعارو څخه جلا تحقیق وشی . دډېر پخوانی هجائی شعر په باب کښی دځیړنی اوتحقیق دپاره ، چه دا اوسنې ترانه او اوسنی تصنیف بـاله کېږی، ډېر غوره اوښه مأخذونه او مدارك د عربومورخینو کتابونه اوآثاردی . پهدغو څیړنو تواریخو کښی کله دپارسی شعرته اشاره شوې ده خوپخپله هغه اشعاریی نهدی ذکر کړی.

اوپه څیړنو نورو کښی هم روایتو نه اوهـم اشعـارڅدواړه نقل اوراوړل شوی دی، لکه داول قسم دپاره دمثال پهډول : پهتاریخ طبری کښی (چهابی جعفر محمد بنجریر طبری لیکلی دی اونوموړی مؤلف په (۳۱۰) کښی مړ شوی او دغه کتاب په ۱۳۸۸ کال پهلیدن کښی دریم ځل چاپ شویدی) په لاندی ډول اشاره راوړی :

( ماته یوچا داسینکل وکـاوه چهپهمراغه کښی دهغه ځای یوې ډلیسپین زیرو د (ابنالبعیث) پارسیشعرونه ماتهوویل ) اومرادیی محمدبن البعیثبنجلیسؤ، چه په۲۳۵ کښی مړشویدی (معجمالادباء ٤۲۱ مخ ۲ ټوك دلیدن چاپ ) دابوالاشعث قمی داشعارو اطلاع ورکوی . مسعودی په ( التنبیه والاشراف پـه ۷٤مخ کښی چه دلیدن چاپ دی) لیکی چه زابنده رود، یـوه شکلی رودخـانه ده اودهغې په بـاب کښی خلکو ډېر شعرونه ویلیدی . پهتاریخ بیهقی کښی (چه د ابوالحسن علی بن زیـد بیهقی تالیفدی) لیکی : چه ډېر پخوانیشاعر چهپه پارسی بی شعرویلی دی، محمد بن سعید بیهقی دی، اونوموړی دیوان او اشعـار لری ، او داهم منلې خبر ده چـهله ۳۱۷ څخه ورو سته نه دی .

اما دو هم راز اشعار چه دهغو څخه خبریو او آثارئی هم زمونږ لاسته را رسیدلی دی، عبارتدی دهجائی اشعـار څخه چهپهعربی یافارسی کتابونو کښی دهغوی ذکرشویدی . یودهغوی لخنی په ٦۰هجری کـال پوریمربوط دی (یعنی دامامحسن (رض) دشهادت اودیزید بن معاویه دخلافت دکالسره نژدی دی ( ٦۰ ٦٤ هـ ،) چهدیونکی ئی عرب دی مګر پخپله شعر فارسی دی . اویوبلئی په ۱۰۸ کال دهشام بنعبدالملك په زمانه کښی ویل شویدی او داشعر داخبر مطوی مجنون د بحر سره برابر دی جاحظ چهپه ۲۵۵هجری کښی مړدی (دالبیانوالتبیین ) په کتاب کښی (لمړی ټوك ٦۱ مخ دمصر چاپ ) اوابن قتیبه چهپه ۲۷۰ کښی مړدی، په طبقاتالشعرا کښی (دلندن چاپ ـ ۲۱۰ مخ ) اوطبری متوفیپه۳۱۰ کال (دوهمهسلسله دلیدنچاپ- ۱۹۲مخ ) او ابوالفرج اصفهانی متوفی ۳۵٦ ، په اغـانـی کتاب کښی (۱۷مخ) دوه پورتنی فقری ئی داسی ذکر کړی دی :

کومهوخت چه عباد د زیاد زوی دیزید بن معاویـه (رض) دخلافت پهزمانه کښی د سیستان په حکومت وټـاکلشو نویزید شاعر دمفرغ زوئیهم وغوښت چهدهغهسرهسیستانته ولاړشی. عبدالله دزیاد زوی دعباد وروړ دی منع کړ او ورته ووېـل : زماوروړ حکومت تهځی، ممکندیونکړ ایشیځرنګه چهښائی ستاشخه ساتنه وکړی اوداکـار بهستا دتاثر اوخواشینې سبب وګرزی . بهر ډنډ چه زمونږ کورنې ته دخجالت اوشرم کالی ورو اغوندی . مګر د عباد زوی تعهد او ذمه داری وکړه چه داسی ونکړی . اوکه کوم شی پېښشو هغه تهبه وکیل. پهپای کښی سیستان ته راغی اودغسی هموشو چهعباد پهجنګ اوخراج اړشو اوونهئی شو کړای چه د شاعر لهحاله لځان خبر کړی نو دمفرغ زوی په هجو ویلو شروع وکړه اودخیل وروړعبدالله ته ئی څه ونه لیکل . او دعهد څخه ئی تخلف وکړ . عباد دمفرغ دزوی دهجوی څخه پهقهرشو اوهغهئی زندانی کړ، دمفرغزوی ترخومودی وروسته له جبلخانیځخه وتښتېدی اودیوه بنارځخه

به‌ئی وبل ښارته تګ‌کاوه اودآل زیاد هجوبه‌ئی ویله . په‌پای کښی‌دی دستګیرشواوعبیدالله دزیاد زوی‌دی‌له‌پښو ، ماسر کوزی اوسیی سره په‌یوه رسۍ وتاړه اوانبیدئی به‌وخښه او دبصری به‌کوڅو کښی‌ئی وګرزاوه کوچنیانو دهغه‌ترشا چیغې اوناری وهلی اوپه فارسی ئی پوښتنه کوله چه داڅه شی دی ؟ دمفرغ زوی په‌فارسی ویل : آب است وبید است ـ عطارات‌زبیب‌است سمیه‌روسپید است داپورته‌شعر په‌نسخو کښی‌په‌مختلف‌ډول‌ثبت‌شوی دی. سمیه دزیاد دمورنوم‌دی چه‌په‌جاهلیت کښی درنیدو ځخه وه او روسپید چه دطعنی په‌توګه ئی ورته ویلی دی دهغی روسپی به‌معنا ده چه اوس دفاحشی معنا ورکوی امادوهمی فقری ته راجع،طبری د۱۰۸کال (۱۴۹۱ و۱۴۹۴مخ) په پښتو کښی‌وائی چه ابومنزر اسد دعبدالله القسری زوی ختلان‌ته لښکری کښی وکړه اود تروکوله خاقان‌ځخه‌ئی، مائی‌وکړه‌اوبلخ‌ته په تښته راغی کوچنیانو به‌په کوڅو کښی‌دده ترشاناری و هلی: «ازختلان آمدی بروتباه آمدی بیدل فراز آمدی» دغسی هم په ۱۶۰۲ مخ کښی د۱۱۹کال حوادثوته بیا اشاره کوی :

« ازختلان آمدیه‌ـ بروتباه‌آمدیه‌ـ بیدل‌فراز آمدیه ـ خشك نزار آمدیه» داوه هغه‌مطالب چه دعربی اثارو لخنی التقاط شول . تردغو چه‌تېرشو لمړنی فارسی شعر بهرام ګور ته (۴۲۰ ـ ۴۳۸م) نسبت ورکوی . مسعودی په‌مروج الذهب کښی (لمړی ټوک ـ ۱۲۶مخ) لیکی : «بهرام دپرعربی او فارسی اشعار لری» . عوفی‌مدعی‌دی (لمړی ټوک ـ ۱۹مخ) چه دبهرام دیوان ئی د«سرپل بازار چه بخارا» په کتنا بخانه کښی لیدلی دی . تعالبی د(غررملوك‌الفرس) خاوند ( ۴۰۸ ـ ۴۱۲) بیادغه نسبت تکرار وی. ابن‌خردادیه‌په ( دارالمسالك‌والممالك) کښی (۱۱۸مخ دلیدن‌چاپ‌ـ تالیف‌د۲۳۰ په‌شاوخوا کښی) دبهرام‌ګور یوه قطعه شعریا مسجع نثر ته اشاره کوی : « منم شیر شلنبه ومنم ببرتله » (شلنبه ددماوند دښارونو ځخه‌دیوه ښارنوم‌دی) دابوعبیدالقاسم دسلام هروی‌زوی (۱۵۰ ـ ۲۲۲) ځخه‌روایت شوی‌دی چه یوه ورځ بهرام ګور دیوه ز مری دوژلو په وخت کښی داشعر ووایه : منم آن‌پیل‌دمان‌ومنم‌آن‌شیرپله ـ نام‌بهرام مراوبدرم بوجیله (په دی تر تیب دروایت‌منشأ دابن‌خرداد ځخه پخوا کښی ) پخوا نیو تذکره لیکونکو او متاخرینو پورته شعر دکلماتو اودروایاتو به‌لږ اختلاف ( مګرتل په دغه وزن اوقافیه) داسی ضبط کړی دی :

منم آن‌شیردمان‌ومنم‌آن‌ببریله ـ نام‌من‌بهرام‌ګورو کنیتم‌بوجبله.

داچه بهرام ګور د پارسی لمړی شعر نه‌دی ویلی اودابیت هم دهغه نه‌دی، په‌دی کښی هم تقریبا هیڅ ډول شبیه و جود نلری، بنابه لا ندنیو دلائلو: لمړی داچه بهرام ګور په خپله لخانته «بهرام ګور نه‌ویل » اواصلی نوم ئی (ورهرام) دی چه په‌دری ژبه کښی بهرام شوی دی دوم کنیه چه‌په‌عربو مخصوص واوزیادتره ئی دزوی دنامه ځخه اخیستله، په هغه ز مانه کښی معموله نه‌وه اواحیانا که دکنیی وجود ومنو بیا هم بو جبله یوه عجیبه کنیه کښی مخصوصا کنیت‌دغره په‌نامه اوبیا دتانیث په‌صیغه ! په‌اغلب احتمال دبهرام په‌زمانه کښی، شعر د پهلوی په‌ژبه موجود ؤ، اوپه‌دی باره کښی چه‌پخپله بهرام شا عر ؤ ښائی چه یوحدس ووهل شی مګر په‌تحقیق سره داشعر دبهرام نه‌دی . سمرقندی دولتشاه په‌تذکرة‌الشعرا (۲۹مخ دبرون‌چاپ) کښی وائی : «ابو طاهر خاتونی و یلی دی چه د عضدالدوله دیلمی په عهد کښی دشیرمانیږ چه دخانقین په شاو خوا کښی ده، ټوله نه‌ده نږدلې ددغی مانیږ په کتابه کښی یوه لیکنه لاس‌ته راغله چه دزړی فارسی په‌څیر دابیت‌پرې ثبت‌شوی‌دی : «هژبرابکیهان انوشه بذی ☆ جهان راپدیدآرتوشه‌بذی » .

یوبل‌ټوك دابوالتقی‌العباس دطرخان زوی دسمرقند دښار په‌باره کښی‌دی چه‌دابن خردادبه په کتاب کښی په لاندې‌ډول راغلی‌دی : «سمرقند کندمند ـ بزینت کی افګند ـ ازشاش نه بهی ـ همی‌شه نه جهی» (ترجمه ښائی داسی وی : سمرقند یوه کندواله دی چه ښایست ئی بایللی دی . ته‌چه دچاچ دښارلخنی بهترنه‌ئی نودخطر ځخه به‌لخان‌و نه ژغوری مجمل‌التوار یخ (دتالیف کال ۵۲۰) دهمای چهر زاد د بهمن لور په شرح حال کښی وائی : «واندر عهد خویش بفرمود که بر نقش زروردم نوشتند : بخور بانوی جهان هزارسال نوروز و مهرگان .» لخینو دپخوانیږ پارسی زوړ شعر ابوحفص حکیم‌داحوص سغدی سمرقندی زوی ته منسوب ګڼی چه دابیت ئی ویلی ؤ :

«آهوی کوهی دردشت چګونه دودا یار ندارد بسی یار چګونه رودا صاحب‌المعجم فی‌معاییر اشعارالعجم ، دهغه زمانه ، ۳۰۰هجری بولی . که داتاریخ صحیح‌وی په تحقیق‌سره داشعر دفارسی زوړشعر نه‌دی اواغلب طاهریان او صفاریان شا عران ترهغه مقدم‌دی اوحکیم هغه‌دی چه‌ابونصرفارابی ، متوفی ۳۲۹، پخپل کتاب کښی دهغه‌ځخه یادونه کړې‌ده اووائی شهرود چه دموسیقی یوه آله ده بی‌له هغه ئی بل‌ټوك و هلی نه‌شوای . دروضات خاوند (۳۴۹مخ) دجلال‌الدین سیوطی ، متوفی ۹۱۱، دالوسائل‌الی‌معرفة‌الاوائل‌له کتاب‌ځخه‌چه‌هغه‌ئی‌دابوهلال‌عسکری (۳۹۵مخ)د کتاب‌الاوایل‌ځخه‌نقل کړیدی دفارسی دلمړنی شعر اوشاعرځخه ئی‌یادونه کړی‌ده‌اووائی: «اول‌من‌نظم‌الشعر الفارسی ابوالعباس‌بن‌جبودالمروزی» نوپدی‌ترتیب سره لومړنی عسکری اوبیاسیوطی‌دفارسی‌دشعرلومړنیږویونکی‌ابوالعباس‌مروزی‌بولی. تردی‌وروسته‌عوفی په‌لباب‌الالباب(د۶۱۷کال په‌شاو خوا ) کښی لیکی: «هغه‌وخت چه مامون‌مروې ته‌راغی په (۱۹۳) ابوالعباس چه ذواللسانین ؤ (یعنی به‌لغت اوعربی اوفارسی شعر کښی لاس

درلود ) دمامون په مدح کې یوه قصیده په فارسي وویلـه چه مطلع ئې په لاندې ډول وه :

ای رسانیده بدولت فرق خود تافر قدین
گسترانیده بعدل وجود در عـالم یـدین

بیاوائي :

مرخلافت راتو شایسته چو مردم دیده را
دین یزدان راتو بایسته چورخ را هردوعین

کسي بر ینمنوال پیش ازمن چنین شعري نـ ـفت
مرزبان پارسي راهست تااین نو ع ببین

لیك ازان گـفتم من این مدحت ترا تااین لغت
گیرد ازحمدوثنای حضرت تو ز یب و زین

ددې مطلب په صحت اوسقم کښې ډیر عقاید او نظریات موجوددی ځینو په طرفداری اوځینې نورودهغه په خلاف خپل دلایل ځرګند کړي ، چه لنډیزئې په لاندې ډول ذکر کېږي :

لمړی : دخبرې اسلوب اود کـلام طرزاوتر کیب دجملو باید په پنځمې پیړۍ پورې مربوط وی اودا ډېر لرې وی چه یو کلام په داسي متانت اوجزالت دفارسي لمړنې شعروی! دمماثلې رعایت او دغسي هم په دووکلمو (شایسته اوبایسته) کښې موازنه دهغه په جعلي توب یوبل دلیل دی او بعضو نورو دادلیل په دې شان راوړي چه دداسي متینې قصیدې انشاد دیوه شاعر څنې چه پر عربي او فارسي باندې مسلط وی اودسلیم ذوق خاوندوی ، څومره لرې نه ده . مماثله اوموازنه دبدیعي صنائعو څخه یو صنعت دی او په په کاروړلئې دهغه چاله خواچه دعربي اشعارو څخه کافي اطلاعات لرې څومره استبعاد نلري اوضمنا ممکن دی یوتن دسلیم ذوق خاوند بې له دی چه دبدیع له علم سره آشنائي ولري دداسي مماثلو څخه په خپلو ویلو اواشعارو کښې استفاده وکړي .

دوهم : مامون د۱۹۳ کال په جمادی الاول کښې مروته راغی اوپه ۱۹۸ کښې دامین تر وژلو وروسته په خلافت کښېناست ، اوتر هغه پخوا لخکه چه دی و لیعهد ؤ ، دامام په عنوان یا دبده نودا چه د خاپنه په عنوان مخاطب ګرزېدلی دی، دد تاریخي وضع په لحاظ دشعر دعدم انطباق اوعدم صحت یوه نبه د اما دانکته هم باید هېره نشي چه شاعر غوښتی ده چه د ما مون دالیاقت چه د خلافت دمقام وړدی څر ګند کړي. اودا دلیل ددې نشي کېدای چه دی خاماخا په هغه وخت کښې باید خلیفه وائي ! اودغسي هم څوك پوهېدای شي چه کوم لیکونکي دی امامت په خلافت سره نه وی تبدیل کړی ؟

دریم : دلاندنی شعرمخالفین : کس بر ینمنوال پیش ازمن چنین شعری نگفت .. دهغه دجعلي ترپ دلیل ګڼي اووائي مخصوصا ددغسي موضوع دپاره وضع شوی دی . دادلیل داسي رد وی چه نفس دغه دلیل عین مدعادی اوځر نګه شاعر دامطلب باید ادا کړي وای ،خودهغه په جعلي توپ دلیل نه وای ګرزېدلای ؟

څلرم : سره له دی چه دمامون مور هراتي اوژبه ئې پارسي وه مګر داد نظره څخه لږی ښکارېږی چه په فارسي ژبه تردې درجې پوری وپوهېږی اوداسي شعردرك کړي ! په دی برهان کښې یوه نکته دغېرنی وړده هغه داچه ښائی مامون په خراسان کښې دخپل استو ګنې په دوره کښې دفارسي دژبې اودهغې دبیان سره آشناشوی وی .

پنځم عربي عروض دخلیل بن احمد فراهیدی متوفی ۱۷۵ په واسطه وضع شو . دادامکان څخه لږی ده چه دده دمړینې څخه ۱۸ کاله وروسته ئې تردی حده پوری انکشاف کړی دی چه په خراسان کښې دفارسي ژبې شاعر دهغه څخه کارواخلي او په بحر رمل، مثمن،مقصور (محذوف کښې) شعر ووائي . مګر یوه نکته باید تر نظر لاندې ونیولهشي چه خلیل داحمدزوی عروض نه دی بنیاد کړی بلـکه هغه ئې تدوین کړی دی لـکه چه د جاهلیت دډوری شاعران ټول په هغو بحورو کښې چه وروسته خلیل بن احمد تدوین کړل ، شعرویلی دی ، اوهم ډېر شاعران بې له دی چه په عروضو وپوهېږی ، شعرئې ویلی دی اوعروض لـکه شعر نشي کېدای چه خاص دیوه قام دپاره وی .

شپږم : عوفی د۶۱۷ کلو په شاوخوا یعنی تر ۴۰۰ کال دمخه دمامون ترزمانې وروسته ئې،دانقل کړی دی اودعوفی دپخوانیو اومعاصرینو څخه لـکه رشیدالدین وطواط ، نظامی عروضی او شمس قیس رازی، هیڅ یو ددې فقری متعرض شوی نه دی . نود عوفی یادونه اودنورو پته خوله توب دهغه دصحت داتساب دپاره یوبل دلیل دی البته دا موضوع پورته ثابته شوه چه ترعوفی دمخه ابوهلال عسکری او سیوطی دا موضوع ذکر کړې ده !

اووم : په دی شعر کښې دعربي کلماتو ډېروالی دهغه دجعلي توب دلیل دی لخکه که دعربي کلماتو دورودځر نګه والی ته و ګورو نو پوهېږو چه په دریمه پیړۍ کښې په فارسي ژبه کښې دعربي تاثیر ډېرلږدی اودځو دینې اومذهبي لغاتو څخه تجاوز نه کوی لـکه چه دځلرمې پیړۍ په آثارو کښې په سلو کښې د پنځو څخه تیری نه کوی ، چه هغه هم زیاتره اداری دینې اوسیاسي لغتونه دی چه په فارسي کښې ئې معادل نه درلود . حال داچه به پورته شعر کښې کـلمه د(ید) هغه هم دتثنیې په صیغه ددی نبه ده چه دغه شعر په هغې دوری پوری مربوط نه دی. ددی دلیل درد دپاره داسي وائي لخکه چه ممدوح (ستایل شوی) اصلا عرب دی نو شاعر ددی دپاره چه شعر ئې نبه ترا مفهوم شي، اوپه تېره چه ده پخپله دعربي څخه کافي برخه درلوده ، په خلاف دنورو صفاری او سامانی شاعرانو ، غوښتی دی چه زیاتره ، عربي کلمات په کار واچوی.

داوه دمخالفینو اوموافقینو دلائل‌دابوالعباس مروزی نظامی عروضی دقصیدی په باره کښی چه‌د چهارمقالی په کتاب کښی (ظاهراً مجمع النوادر نومپښی ) درج‌دی .

په دوهمه مقاله کښی‌د شعر اوشاعری په باره کښی ( تالیف ۵۵۰) لیکی چه داحمد دعبدالله خجستانی زوی څخه پوښتنه‌وشوه چه‌ته خو یوعادی سړی‌وی چه‌دخره خدمت‌دی کاوه داځنګه وشوه چه دخراسان امیری ته ورسېدی؟ ده وویل یوه ورځ می‌دخجستان په بادغیس کښی دحنظله باد غیسی دیوان لوست دغه بیت‌ته راورسیدم .

مهتری گر بکام شیر درست
شو خطر کن ز کام شیر بجوی
یا بزرگی وعزو نعمت وجاه
یاچو مردانت مرگ رویار وی

نوزما په‌دفکر کښی یوه‌داعیه پیداشوه چه‌په نتیجه کښی دخپل موجوده حالت‌څخه خوښ اوراضی پاته نشوم دغسی هم عوفی داشاعر دآل‌طاهر (۲۰۵-۲۵۹) دزمانی‌دشاعرانوڅخه بللی دی تاریخ گزیده دمقدمه‌باب په دوهم فصل کښی د سامانی پاچهانو په‌بیان کښی، عین‌حکایت اوددوو بیتونو داروبدنی نسبت سامان خدا، دسامانیانونیکه ته نسبت ورکوی مگر دویو نکی نوم نه اخلی دمجمع الفحصا خاوند دحنظلهٔ بادغیسی وفات ۲۱۹ اوبعضو نورو ۲۲۰ هجری لیکلی دی دسیستان تاریخ (تالیف د۴۴۵-۷۲۵ په‌شاوخوا) چه مولف ئی نه دی‌معلوم (۲۰۹مخ دطهران‌چاپ) هرات‌ته‌دیعقوب دتګ اودهری و نیولو په باره کښی لیکی پس شعرا اوراشعر گفتندی به تازی .

قد اکرم الله اهل المصر والبلد
بملك یعقوب ذی الافضال والعدد
قد آمن الناس محواه و عزته
ستر من الله فی الامصار والبلد

هغه‌وخت چه‌داشعر وویل‌شونو هرکله چه دی عالم نه‌ؤ پوه نشو، محمددوصیف‌زوی چه دده د رسایلو دبیر ؤ هلته حاضرو اوپه‌ادب کښی لاس‌درلود په هغه‌زمانه کښی دفارسی لیك معمول نه‌ؤ . نویعقوب‌وویل هغه‌شی‌چه زما دپوهی‌څخه لهری وی ولی وویل‌شی؟ وروسته محمد وصیف فارسی شعر ویلوته پیل و کړ اوپه عجمو کښی لمړی‌شعر ده‌وویل اوترهغه پرومبی‌چانه‌ؤ وویلی ترڅوچه پارسیان ؤ خبری کول اوشعر وبل هم په دوی پوری مربوط ؤ شعردخسروانی په‌سبك اوطریقه‌ویل‌کیده اوبیا چه‌عجم ولاړ اوعرب راغی په دوی کښی په تازی (عربی ) ویل کیده اوپه تازی شعر کښی ټولوته علم اومعرفت حاصل ؤ او په عجم کښی تریعقوب پخوا داسی څوك نه و چه په لوی والی کښی دهغه سره برابری‌وکړی مگرحمزه دعبدالله الشاری زوی ( چه شایدخارجی‌وی) حمزه عالمؤ اوپه تازی کښی لاس در لود دده شاعرانوعربی ویله اوابنګراوفوځئی دعربو څخه جوړ شوی ؤ هرکله‌چه یعقوب زنبیل اوخارجی عمارووژل په‌هری‌باندی قبضه وکړه‌اوسیستان کرمان اوفارس دده تر تصرف لاندی راغی محمددوصیف زوی دده په‌مدح کښی داشعرووویل :

ای امیری که امیران جهان خاصه و عام
بنده‌وچاکرومولای‌وسك بندسگانند وغلام
ازلی‌حظی (خطی) درلوح که‌ملکی بدهید
بی(به) ابی یوسف یعقوب بن‌اللیث همام
بلتام آمد زنبیل ولتی خورد پلنگ
لتره شدپاره لشکر زنبیل‌وهباگشت کنام
لمن الملك بخوا ندی تو امیرا به یقین
باقلیل الفته که‌داددران زادران لشکرکام

(کنام آرامگاه‌ابدی، آئی‌شریفی ته اشاره : کم من فئة قلیلة غلبة فئة کثیرة

عمرعمارتراخواست‌وزو گشت بری
تیغ تو کرد میانجی بمیان ددودام
عمراونزدتو آمد که‌توچون‌نوح بزی
در آکار تن او سر او باب طعام

داشعر اوزددی مگر مونږ لږ یادکړ بسام گورد دهغو خوارجو څخه وچه یعقوب‌ته دروغی دپاره راغلی‌و او هرکله چه په‌شعر کښی وصیف سبك او طرز ولید نوشعرویلوته‌ئی پیل‌وکړ اوادیبؤ حدیث عمردیوه شعر په‌ترخ کښی وائی :

هر که نبود او بدل متهم
بر اثر دعوت تو کرد نعم
عمر ز عمار بدان شد بری
کاوی خلاف آورد تا لاجرم
دید بلا برتن وبرجان خویش
گشت بعالم تن او در الم
مکه حرم کرد عرب را خدای
عهد ترا کرد حرم در عجم
هرکه درآمد همه باقی شد ند
باز فناشد که بدید این حرم

بازمحمد دمخلد زوی هم سکزی اوفاضل او شاعر سړیؤ ده‌هم په‌فارسی ویلو پیل‌وکړ اوداشعرئی وویل :

جز تو نزاد حو او آدم نگشت
شیر نهادی به عدل و برمنشت
معجز پیغمبر مکی تو ئی
بکنش و به منش و بگوشت
فخر کندعمار روزی بزرگ
کو همانم من که یعقوب کشت

وروسته تردی هریوه دشعر ویلو لاره تعقیب‌کړه مگر په ابتدا کښی دوی‌وو اوهیڅ‌چا په‌فارسی ژبه کښی شعر نه‌ؤ ویلی

داوهغه مطالب چه دسیستان تاریخ نقل کړی دی او کوم‌شی‌چه ددی‌څخه استنباط کیږی هغه‌دادی‌چه محمددوصیف زوی‌لمړنی دفارسی‌ژبی شاعردی‌البته دجمله بندی اوعبارات طرز اودځینو کلمو او تر کیبانو کمزوری دنو موړی ابتدائی توب څرګندوی اوپوهوی چه لمړنی فارسی شعر باید دغسی وی . دبلی‌خوا اشعارهول دمخصوص‌مقام اومرقع په تناسب سره ویل شوی اودتاریخی‌پیښولخنی حکایت کوی په هرتقدیر کـه‌داشعر لمړنی فارسی‌شعر ونه‌شمیرو په تحقیق سره څو دفارسی دهغو زړو اشعاروڅخه‌دی چه‌مونږته په لاس راغلیدی، بیاکه‌دنظامی عروضی قول‌ته اعتبار ورکړو نو دحنظله بادغیسی (متوفی ۲۱۹-۲۲۰ه) زمانه، دمحمد بن وصیف اود نورو پرهغی تقدم مومی اوپه‌دی حساب هغه زوړ فارسی شعرچه زمونږ په لاس کښی‌دی دهغه‌مال کښل کیږی چه‌تفصیل ئی پاس ذکرشو .

نوپه‌دی ترتیب‌سره دفارسی اشعارو لرغونـی ویونکی به‌لاندنی کسان‌وی: بادغیسی حنظله محمد دوصیف سکـزی زوی، بسام‌کردخارجی ، اومحمددمخلد زوی چه‌لمړنی ویونکی دطاهـریانو(۲۰۵-۲۵۹) او نور دصفا ریانـو معاصـران وو ۲۴۵-۲۹۰ه) دفارسی منثور زاړه آثار:

دپورتنی‌مطالبو‌په‌ملاحظه ، دفارسی‌شعرموجودیت څه‌هجائی اوهه‌عروضی، د۶۰۶هجری‌څخه راپه دیخوا ثبوت‌ته ورسید . اما هغه‌اشعار چه‌دبادونی وړدی ددریمی هجری پیړی څخه متجاوز مونږته‌نه‌دی رارسیدلی ، دنثرپه باره کښی کـه‌دری‌ژبه دپهلوی اشکـانی روستاړ وګـڼو، کوم زاړه آثار چه زمونږ په لاس کښی‌دی دهلرمی‌هجری‌پیړی څخه‌متجاوز نه دی . مسلماتردی یخواهم کـتابونه اورسالی په دعی ژبه کښی موجو دي دی‌چه مونږته‌نه‌دی رارسیدلی ځکه چه‌مثمری ، بلعمی اودابو المویـد نثرچه‌بیان به‌ئی وروسته راشی داسی نثرنه دی چه دبوی پیړی، مولود وی ، لکه چه حافظ د البیان والتبیین په کـتاب کښی دکـاروندد کـتاب وجودته اشاره کوی سمد لاسه ترکوم ځایه پوری چه‌تحقیق شوی دی دفارسی زوړ نثر دلاندی کـتابونو څخه عبارت دی :

دابومنصوری دشاهنامی مقدمـه چه دابو منـصو ر محمـد دعبدالرزاق زوی چه‌دتوس خراسان سپه‌سالار ؤ اوپه ۳۵۱ کال کښی ووژل‌شو، لیکل شوپده دغه مقدمه د ابو منصوز المصری دابومنصور محمد دعبدالرزاق دزوی و زیر په قلم لیکل شوې اوشاهنـامه منصوری مقدمه ده چه ورو سته دمحو نورو ضمایمو سره دفر دوسی دمنظومی شاهنامې مقدمه وبلله شوه اودګور ګـانی شاهزاده بایسنقر میرزا په زمـانه کښی دامقدمه دمنځ نه‌یوړل شوه اواوسنۍ مقدمه دهغه پـرځای کـښېښودلـه شوه چه‌دهغی‌دلیکنې تاریخ د۳۴۶ هجری کـال محرم دی .

دامقدمه‌ددری دخالصو روانو اوسا ده لغاتو څخه ډکه ده اوداسی لغات‌دی چه‌فردوسی او دقیقی هم په‌خپلو شاهنامو کښې استعمال کړی‌دی اوعربی‌لغات ئی په‌سلو کښی له‌دووڅخه زیات نه‌دی اودشاهنامی په زړی مقدمی سره معروفه ده اودنمونـی په‌حیث یوڅه دهغی‌څخه رانقلو و :

«سپاس وآفرین خدای راکـه این‌جهـان وآنجهـان آفرید ومابندګـان را انـدر جهـان پدیـدار کـرد و نیـك اندیشان وبد کر دا ران را پاداش و پا دا فراه برا برداشت و درود برګـزیدګـان‌وپاکـان‌ودین داران خاصه بر بهتر ین خلق خدا محمدمصطفی صلی‌الله علیه وسلم و براهل بیت وفرزندان اوباد آغاز کـارشاهنامه ازګرد آوریده ابومنصور المعمری دستور ابومنصور عبدالرزاق عبدالله فرخ اول‌ایدون ګوید درین نامه کـه‌تـا جهـان بود مردم ګرددانش ګـشته‌اند وسخن‌رابزرګ داشته ونیکوترین یادګـار سخن دانسته‌اند چه اندرین جهـان مردم بدانش بزرګوار تر ومایه دارتر وچون مـردم بدانست کـزوی چیزی‌نمـاند پایدار بدان کوشد تانـام اوبمـاندونشان ګـسسته‌نشود ... »

دتاریخ طبری ترجمه: اصلا داکتاب په‌تازی‌دی اوموسوم دی په (تـاریخ الرسل والملوك) لابی جعفر محمد بن جریر الطبری (متوفی ۳۱۰هجری) چه دابوعلی محمد دمحمدالبلعمی زوی (دعبدالملك بن نوح او ابوصـالح بن ابو منصور بن‌نوح وزیرؤ اوپلار ئی ابوالفضل محمدبن‌عبدالله بلعمی دنصر بن‌احمد وزیرؤ) په۳۵۶ هجری کـال ئې دابو صـالح منصور بن نوح سـامـانی په‌امر ترجمه کړ ، داترجمه‌بشپړ فصاحت‌اوسـادګی‌لری داده یوه نمونه دتاریخ طبری دترجمې څخه :

«سپـاس وآفرین مرخدای کـامګارو کـامروان‌وآفرینندهٔ زمین وآسمـان وآن کس کـه‌نه همتاد ارد ونه‌انبـاز ونه‌دستور ونه یـارونه زن ونه‌فرزند ، همیشه بود وهمیشه‌بـاشد وبرهستی اونشانهـای آفرینش پیدا است و آسمان رزمین وروز وآنچه بـدو اندر است ، وچون بخود نـګـاه کـنـی بـدانی کـه آفرینش اوبرهستی اوګواست وعبـادت وی بر بندګـان وی واجب وهویداست ... »

دتفسیرطبری ترجمه : داتفسیر چه‌اصلا په‌عربی ؤ دابی‌جعفر محمد بن جریر طبری دتـاریخ دخاوند دی چه دهغه دتاریـخ د تر جمی سره نیز دی یا یو کـال وروسته دمـاوراء النهـر دنـامتو علمـاؤ دخوا دابوصالح منصور بن‌نوح په امر په دری فـارسی پهښه تو ګـه او ډېر لطافت ترجمه شویـدی‌داتـرجمه په۱۴ تو کونو کـښی وه چه ورو سته ئې په اوه تو کو کـښی داخله کړه ، او دهغی څخه یوه ښکلې نسخه چه‌په ۶۰۶هجری کـال کښی لیکلی شوې ده ایران په‌سلطنتی کـتابخانه کښی.

موجوده ده ، اوخارم توك ئې ورك دی . ددې تر جمې په‌مقدمه کښې داسې لیکل شویدی :

«این کتاب تفسیر بزرگست ازروایت محمد بن جریر الطبری رحمة‌الله علیه ترجمه کرده بزبان پارسی دری راه راست، واین کتاب را بیاورند از بغداد چهل مصحف بود نبشته بزبان تازی و به اسناد های دراز بود و بیاوردند سوی امیرسیدمظفر ابوصالح‌منصور بن نوح بن نصر بن‌احمد بن‌اسمعیل رحمة‌الله علیم اجمعین پس دشتخوار آمد بر روی خواندن این کتاب وعبارت کردن‌آن بزبان تازی وچنان خواست که‌مراین راترجمه کنند بزبان پارسی ،پس علمای ماوراء النهر را گرد کرد واین از ایشان فتوی کردگی روا باشندکما (که‌ما) این کتاب بزبان پارسی گردا نیم ؟ گفتند روا باشند خواندن ونبشتن تفسیر قرآن بپارسی مرآن کسی راکه او تازی نداند ازقول خدای عزوجل که گفت :

«ومااارسلنا من‌رسول الابلسان قومه» گفت‌من‌هیچ پیغامبری نفرستادم مگرنزبان قوم‌او وآن‌زبان کایشان دانستند و دیگر آن‌بود کاین‌زبان پارسی ازقدیم باز دانستند از روز گار آدم تاروزگار اسمعیل (ع) وهمه‌پیغمبران و ملوکان زمین به‌پارسی سخن گفتندی و اول کسیکه سخن گفت بزبان تازی اسمعیل پیغامبربود . پیغامبر ما صلی‌الله‌علیه‌وسلم از عرب بیرون آمد واین‌قرآن بزبان‌عرب بر اوفرستادند واین بدین ناحیت زبان پارسی‌است وملوکان این جانب ملوکان عجم اند ....»

حدودالعالم من‌المشرق الی‌المغرب : داکتاب په۳۸۲ هجری کال کښې دامیر ابو الحارث محمد بن احمد بن فریغون دپاره دخراسان په گوزګانانو (اوسنۍ میمنه) کښې لیکل‌شوی‌دی . آل‌فریغون ادب‌پروره اوعلم خوښوونکی کورنۍ‌وه . داکتاب په‌کیهان‌شناسۍ (جغرافیا) کښې‌دی په فحیحه اوناز که‌ژبه‌لیکل شوی دی ، اومولف ئې نه‌دی معلوم ددې کتاب په مقدمه کښې لیکل شو یدی : « سپاس خدای تو انا (ی) جاو یدرا آفرینندهٔ‌جهان و کشایندهٔ کارها وراه نمایندهٔ بندګان خویش را بدانش های گوناګون ودرود بسیاربرمحمد وهمه پیغمبران بغرضی وبپیروزی نیك اختری ...»

بل‌دزړو نشری اناروخخه عجائب‌البلدان، بلی کرشا سینامه دابوالمؤید بلخی تالیف او کتاب‌الا بنیه عن حقائق الادویه دحکیم موفق‌الدین ابومنصور علی مروی تالیف او رسالهٔ استخراج اورسالهٔ شش فصل دی چه‌محمد بن ایوب الطبری ته منسوب‌دی .

## اعرابو تسلط اودفارسی اوعربی ژبی‌روابط :

وروسته دنهاوند ترماته، چه اعرابوهغه به فتح‌الفتوح مسمی کړیده، دریم یزدګرد دخراسان خواته مخ وا ړو او به ۳۱ هجری کال په‌مروه کی دیوه ژرند ګړی له‌خوا چه دهغه دقیمتی جواهرو طمع ئی درلوده ووژل شو خرنګه چه پو هینزو په‌اسلام کښې دقامونو او ملتونو ترمنځ مساوات ته ډیره توجه شویده اوددښې امیې ترخلافت پوری اعراب اوغیرعرب مسلمین ټول په حقوقو کښې یودبله سره مساوی وو . بنوا میانو د پاره ددې چه خلافت ددوی په کورنۍ کښې پاته‌شی، کوښښ ئې کاوه چه عربوته پرنورو باندی تفضل اوامتیاز ورکړی . نودادوره دعربو دتعصب‌اودغیرعربی نژاد د تحقیر دوری په‌نامه یادیږی اوددوی سره‌ئی عرابو نور اسیراوغیر عرب ملتونه قبطی اویا رومی اوترك او ایرانی موالی بلل داسلامیت څخه لرې بد سلوکی اوبدرفتاری کوله . مثلا دغه غیرعربی قامونه داعرابو سره دګډون څخه محروم وو مثلا که‌یوتن د سیرو موالیوڅخه دعربو دیوه بلی‌سره پرلاری مخامخ کېده نوباید چه دځپل آس‌لخنی بښکته شوی وای، اودغسی هم په‌جنګونو کښې دوی په‌اول صف کښې دریدل اوبلی به وو ، اودغنائیمو څخه به‌ئی برخه نه‌درلوده . دغه‌طرزالعمل ددښمنۍ او انتقام حس په غیر عربی مللو اومخصوصا په خراسانیانو کښې‌په‌شدت سره‌تحریك کړ اوددې آزار اوتحقیر عکس‌العمل دینی اومذهبی ، فکری اواجتماعی، سیاسی اونظامی نهضتونو ته منجرشو، چه ترټولو ، فکری اواجتماعی نهضت ډېرمهم ؤ لکه چه‌ددغه نهضت په اثرؤ چه دعربو اوعجمو ترمنځ سخت کشمکش اوړو دوړ پیداشو اوهریوه کوښښ کاوه‌چه‌په تاریخی، علمی اوادبی دلایلوسره خپل‌ځان پرنورو باندی‌غوره کاندی. همدا وجه‌وه چه دشعراؤ اولیکوالو ترمنځ دټل‌دپاره مجادلی اوشخړی پیداشوی، کومه مهمترینه فرقه چه‌په‌دې فکری کشمکش کښې ئې ګډون کړیؤ (شعوبیه)وه، دوی په‌استناد ددې مبارکی آئی (وجعلناکم شعوبا وقبائل‌التعارفوا) اوددې شریفی آئی په‌استناد ( نعدکم شعوبا وقبایل لکی تعلمون ) ویل‌چه اسلام دبرابری‌او ورور ولۍ آئین‌دی اوکه مرنبز په‌خانګو اوقبیلو وپښل‌شوی یو، دادډې دپاره نه‌دی چه مونږ یوپربل باندی څه فضیلت او امتیاز لرو بلکه ددې دپاره دی چه یو دبلی لخنی تفریق اوسره وپېژندل شو، دوګړو فضیلت په‌نسب ، نژاد، حسب اوقوم نه‌دی ، بلکه (ان اکرمکم عندالله اتقکم) یعنی هغه څوك لوی څښتن (ج) ته نژدې اومکرم دی چه د تقوی اوفضیلت خاوندوی . ځکه نو دعربو قوم‌هم پر نورو قومونو باندی هیڅ راز افتخار اوامتیاز نلری ددوی ویاړ اوافتخار یوازی په‌دې سره دې چه سردار دکائناتو حضرت محمد مصطفی صلی‌الله علیه وسلم ددوی په منځ کی مبعوث شویدی. دانهضت‌ورو،ورو اوهغه ځای ته‌ورسید چه ددواړو خوا ؤو متعصبینو د خپل فضیلت داثبات او د..

دفضایلو دردولو په باره کښی اشعار او اخبارونه ولیکل اوپه پای کښی داسی شاعران منځته راغلل چه دیوې خوا دعربو دتحقیر اوتذلیل دپاره اودبلی خوا دخپلو قومی مفاخرو او ماثرو دپېژندولو په غرض ئې په عربی ژبه اشعار ولیکل او خپاره ئی کړل . ددوی مقصود اوهدف داؤ چه خپل قومی مفاخر اومآثر معرفی کړی اودعربو دلویوالی اودسیاسی قدرت بناء سسته اوضعیفه وگرزوی اودخپل ملی استقلال اعاده کړی . لکه چه دطاهریانو، صفاریانو اوسامانیانو سیاسی اونظامی مختلف شورشونه اوقیامونه دهغه دنتایجو څخه وو ، دادخپلونیکه گانو اوپلرونو دمفاخرو اومآثرو بیانول دشدید او بیکاره حماست سره ملګرتیا وه، اوهم ددغو شورشونو نتیجه ده چه متعددی شاهنامی اوتواریخ ولیکل شول اوملیت اوژبه اوپه دغو پوری مربوط شیان منځ ته را غلل، ددغو نهضتونو اوشورشونو صحنه خراسان اوسیستان ؤ، چه دملی ادابو او مراسمو اودملی ژبی اوعقاید دساتنی دپاره یې ډېری فداکاری وکړی اوزحمتونه ئی وګالل .

لومړنی غیرعرب شاعر، چه دخپلو پارونو دمفاخرو دبیان دپاره ئې ژبه وخوځوله اسمعیل بن یسار (متوفی ۱۰۱ه) ؤ ، اوپه هغه وخت کښی یوبل متعصب شاعر، چه بشار بن برد (متوفی ۱۶۷ه) دتخارستان دشهزادګانو څخه ؤ چه یوه لحظه هم داعرابو دتحقیرولو څخه لاس نه ژغوره په دریمه هجری پېړۍ کښی شعوبی شاعران زیات شول اوپه دې ترتیب د شعرا و ادب په وسیله سره دملی مفاخرو اوذقوم دتحریکو لو د بیان په ذریعه دعربو په مقابل کښی پاڅېدل، اوبوې بلی ډلې ددوی دسیاسی اونظامی نهضتونو دلاری څخه دامبارزه تعقیب کړه ، لکه چه دخلافت انتقال دامویانو لخوا دعباسیانوته دابومسلم خراسانی په واسطه، صورت وموند . دبوسلمه اوابو مسلم او آل برمك اوفضل بن سهل ظهور اونفوذ ټول په حقیقت کښی د ذکرشوبو نهضتو دنباله اونتیجه وه .

دعربی او فارسی روابط : په دنیا کښی داسې ژبه نشته چه دنورو ژبو سره دګډون څخه ګوښی پاته شوی اویاد پردیوالفاظو دقبول څخه بې نیازه وی،مخصوصا یه داسی موقع کښی ددوو قامونو ترمنځ ادبی ، فکری ، سیاسی ، نظامی او علمی روابط تینګ شی . دغسی تاثیر اوتاثر په عربی اوفارسی کښی هم موجوددی . مونږ دغه تاثراوتاثیر په لاندی ډول مطالعه کوو :

لومړی : د فارسی ژبی تاثیر په عربو کښی: داسلام په صدر کښی مونږ وینو چه پهلوی کتاب اوآثاردبوشمېر زیات مترجمینو دخوا په عربی ژبه راانتقل شوی دی مخصوصاً دبنی عباس په زمانه کښی چه پهلوی آثارو ته ډېره توجه وشوه . عبدالله بن المقفع ( روز به پسر زادویه گبری پارسی )اودنوبخت ، حسن بن سهل جبلة بن سالم ، محمد بن الجهم البرمکی ، زادویه بن شاهویه اود محمد بن مطیار کورنیو اونور دنامتو مترجمینو څخه وی چه د هغو نومونه اودلحینو نورو مونږ ته رارسېدلی دی . دغه آثار تاریخ اوافسانوته شامل وو،لکه هزارو یك افسانه(الف لیل ولیلته) خداینامه (سیرالملوك) اوپه سلګونو نورې رسالې چه په الفهرست ابن الندیم کی په تفصیل سره قیددی .

۲ - فرهنګی اواخلاقی کتابونه چه په هغوی کښی کلیله ودمنه الادیب الکبیر والادب الصغیر مشهور دی .

۳ - علمی اوفنی کتابونه: چه په منطق هیئت ، نجوم اوطب کښی عربی ته نقل شول . که څه هم دټولو آثارو لخنی چه شمیر ئې زرګونوته رسېږی پرته وپوه لږشمیر څخه مونږ اطلاع نه لرو ، خو بیاهم دلږ اطلاع اولږو کتابو چه مونږ ته رارسیدلی دی ګولای شوچه په عربی باندی دپهلوی په تاثیر و پوهېږو حتی دفن بوهان په دې عقیده دی چه دعبدالحمید سبك په عربی کښی بشپړ پهلوی نثر تر تاثیر لاندی راغلی دی ، اوبخپله عربان هم وائي (بدئت الکتابة بعبدالحمید وختمت بابن العمید) چه دواړه غیرعرب اوعجمیان دی . ډېری کلمی دفارسی څخه عربی ته راغلی لکه چه دمتخصصو پوهانو عقیده داده چه داسلام په اول کښی دفارسی لغاتو تاثیر اومقدار په عربی کښی نسبت عربی لغاتو ته په فارسی کښی ډېرؤ ، مخصوصا درباری اودیوانی لغات یاهغه لغتونه چه مفاهیم ئې په جزیرة العرب کښی نشته دی ، لکه دعقاقیرو یاابزارونو نومونه یادمصنوعاتو ، معادنو ، ګلونو اوحیواناتو نومونه او نور فلسفی علمی ادبی اودینی لغات چه عربی ژبی ته راغلی دی .

بیادلغت دلیکونکو عقیده داده : چه عربو دفارسی ژبی څخه نسبت نوروژبوته زیات لغات اخیستی دی البته چه ددې تفصیل دبیان دپاره دالحای نه دی . اما په فارسی کښی د عربی تاثیر کاملاً بلډولدی ، هغه وخت چه مونږ په فارسی کښی دعربی کلمو دراتللو کیفیت اوعرنګه والی ته ګورو داسی نظر ته رالحی چه په لومړی مرحله کښی ئې تاثیر ډېر لږ ؤ لکه چه دلومړی پېړۍ څخه بیاتر پنځمی پېړۍ پورې دهغو مقدار دفارسی ژبی په آثارواو اشعارو کښی دپنځو څخه زیات نه ؤ ، مګر کله کله په سلو کښی اتو نه هم رسېږی چه خورا ښه نمونه ئی دسامانی دورې اودغزنویانو دلومړی وخت نظمی او نثری آثاردی،دا راز لغات زیات هغه لغات وو، چه یائي په فارسی کښی معاون نه درلود اویاداچه ددینی اوسیاسی اواداری اصطلاحاتو څخه وو ، دلمړنی مثال لکه : زکوة، حج اونورداسی . داداری اوسیاسی لغاتو مثال لکه : امیر ، ملك، شحنه ، سلطان اونور . حتی دعربی لغاتو په په کار اچولو کښی مونږ وینو چه څینی کلمی لکه «صوم» او «صلوة» سره له دې چه عربی دی په فارسی کښی دوګړو دخوا ، لږداستعمال لاندی

راغلی‌دی اودهغوی پرځای ئل فـا رسی کلمی ( نماز اوروزه )
استعمالیږی . مترادفو کلموته وروسته توجه راغله، شاعرانو او لیکوالو عربی لغاتو ته‌زیات توجه وکړه لکه چه‌مثلا سره‌له‌دې چه‌دحرب دکلمی په‌مقابل ، په‌فارسی کښی‌درزم ،پیکار، کارزار، نبرد ، آویز ، جنگ ، هنگامه ، پرخاش او حتی دننگ کلمی موجودې وی خو بیاهم شاعرانو سعی وکړه چه د حرب کـلمه استعمال کړی . اودا کار ورو ، ورو هغی مرحلی ته ورسېد چه متصنع اومتکلف‌سبکونه‌ئی منځ ته‌راوړل چه‌په‌هغوی کښی عربی کلمی نسبت فارسی ته‌ډیری زیاتی‌دی .

او کله‌کله دې درجی ته‌رسیږی چه‌په یوه جمله کښی پرته‌د روابطو څخه په‌نوری کلمی ، ټولی عربی‌وی .اوداکار په‌ادبیاتو کښی په‌پرېو پېرېو تحقق ومونده‌ترڅوچه‌زړو سبکونو ته‌رجوع کول دتوجه‌وړ وګرزېدل‌لکه‌چه‌ترهغو وختو نو پوری‌چه‌پ‌فارسی کښی دصفت اوموصوف اومونث اومذکر ترمنځ تطابق (چه‌د عربی ژبی‌دپاره مخصوص‌دی) معمول اوموجود وؤ دفارسی ژبی دسیرت په‌خلاف ، په‌فارسی ژبه کښی معمول وګرزېد . امایوه نکته چه نه‌بنائی له نظره و لوېږی ، داده چه ز مونږ لویانو دعربی کـلمو د قبلولو په‌لړ کښی هغه کلمی ډېره خوښی کړی چه‌د فارسی ژبی‌دطبیعت ، سیرت او مزاج سره ئې نیږدیوالی اوتوافق درلـود . او کـه دغه کـلمـی ثـقیـلی او درنـی وی، اودفارسی کلمو په‌څېر پستی نه وی هغوی‌ئې دژبی‌دمذاق اوطبیعت په‌اقتضاء پستی اونرمی ګرزولی. لکه چه‌ددې مطلب دثبوت دپاره متعدد مثالونه لرو چه‌په‌بل ځای کښی به‌ذکرشی.

طاهریان (۲۰۵ - ۲۵۹) : د طاهر یانو د سلسلی مؤسس طاهر بن‌حسین بن‌مصعب بن ازیق بن‌ماهان ؤ چه د۱۵۹هجری په شاو خوا کښی دهرات دبو شنج په کلی کښی و زیږېد ازیق بن‌ماهان او طلحه‌بن عبدالله خزاعی دموالی او مربیانو څخه ؤ او په‌دغه نسبت طاهر په‌خزاعی سره شهرت موندلی دی . فضل بن‌سهل ذوالریاستین ، دمامون وزیر خلیفه مجبور کړ چه طاهر دامام علی بن موسی الرضا خدمت‌ته، بغداد ته و استوی او دهغه سره‌دولیعهدی‌په نسبت بیعت‌وکړی . داسی‌مشهوره ده ، کوم وخت چه امام رضا خپل کینې‌لاس دبیعت‌دپاره ، دطاهرو خواته وغځاوه ،طاهر خپل کینې لاس ورته وړاندی کړ ، امام‌ته به دې لحاظ تعجب وربېښ شو اوددې‌کار دعلت‌په‌باره کښی‌ئې پوښتنه وکړه .طاهر په ځواب کښی وویل «زما ښی‌لاس د مامون سره په بیعت مشغول دی امام دې ځواب څخه خپله خو ښی څر ګنده کړه اودهغه سره ئې بیعت‌وکړ . څه موده وروسته چه مامون ددې قضیې څخه اطلاع پیدا کړه امام ته ئې وویل : ځکه چه دطاهرلاس لمړنی لاس‌دی چه دامام لاس‌ته رسیدلی دی نو زه په‌هغه‌چپ باندی دښی لاس نوم ږدم نوله‌هغه ورو سته طاهر په ذوالیمینین سره شهرت وموند .

(طبری ددې تسمیې د باره بله وجه راوړی ده او وائی : څرنگه چه‌طاهر دخپل غالبیت په‌باره کښی چه پر علی بن‌عیسی باندی موندلی‌ؤ، مامون ته‌لیك وراستولی ؤ ، مامون په‌ځواب کښی ورته ولیکل : لکه‌چه په‌دوو لاسونودې جنگ کړی دی اوستا دواړه لاسونه ښی‌دی» وابی چه په‌دغه‌جوابی لیك کښی (هغه‌ته دذوالیمینین خطاب وکړ) .

په ۲۰۵ هجری‌کال کښی‌طاهردخراسان‌دحکومت‌واگی پخپل لاس واخستی اوداستقلال بیرغ ئې وچت کړ. اوزامنوئې دطاهری سلسله تاسیس کړه ترطاهر وروسته ددې کورنۍ نورو امراؤ په‌خراسان کښی حکومت کړیدی چه‌مونږ دلته دهغوی دنومونو په‌یادولو اکتفا کوو : طلحةبن طاهر (۲۰۷- ۲۱۳ه) عبدالله بن طاهر (۲۱۳-۲۳۰ ه)طاهرثانی (۲۳۰-۲۴۸ه) محمد بن طاهر (۲۴۸- ۲۵۹ه) اومحمد دطاهر یانو د سلسلی اخرنی غړی دی چه دیعقوب بن لیث صفاری دخوا اسیرشو او په‌دې ترتیب سره دآل‌طاهر دولت خاتمه ومو ندله .

شاعران ـحنظلهٔ بادغیسی :ډیر پخوانی‌مآخذ چه دنوموړی نوم ئې یادکړیدی د نظامی عروضی څلور مقاله ده ، لکه‌چه دنظامی عروضی سمرقندی د دوهمی مقالی‌څخه‌څرګندیږی چه ده یودیوان هم‌درلود چه‌احمد بن‌عبدالله‌خجستانی ته دهغه د دوو بیتو نو دویلو څخه داسی دا عیه ور پیښه شوه چه د خربندګی (اسکیرلی ژوند) څخه ئې لاس واخیست او په سعی او کوښښ ئې‌لاس پوری کړ ترڅوچه امارت ته‌ورسید ، هغه دوه‌بیتونه په لاندی ډول دی :

مهتری گر بکام شیر در ست    شو خطر کن زکام شیر بجوی
یا بزرگی وعزو نعمت وجاه    یاچومردانت مرگ رویاروی

داشاعر د۲۲۰هجری په خواوشاکی یا په بل قول په ۲۱۹ کښی وفات‌شوی‌دی . اولاندی دوه‌بیتونه هم دهغه‌دی :

یارم‌سپند گر چه‌در آتش‌همی‌فگند
از بهر چشم تانرسد مر وراگزند
اورا سپند ومجمره ناید همی بکار
باروی همچوآتش وباخال چون‌سپند

محمود وراق : دمحمد بن طاهر ددې سلسلی داخرنی پاچا معاصرؤ اومجمع الفصحاء لاندنی شعر دهغه‌څخه نقل‌کړی دی:

نگار بنا به‌نقد جانت ندهم    گرانی در بهاار زانت ندهم
گرفتم‌من‌بجان دامان و صلت    نهم‌جان‌در کف‌ودامانت ندهم

لیثیان یاصفاریان (۲۵٤ - ۲۹۰ه) : یعقوب‌دلیث سیستانی زوی و په‌ابتدا کښی بی دبلار کسب اوحرفه درلوده بیا ئی له

هغه څخه لاس واخیست او دعیا رانو په ډله کښی داخل شو او دعیا رانو ریاست ته ورسېد، ورو سته تر هغه ببا د خرا سان دحکمران‌دسپاه‌قوماندان مقررشو، اوچه‌دخراسان والی « درهم بن‌حسین» بی کفایت سړی‌ؤ . نولښکریان‌دهغه‌په‌مقابل وښورېدل اوپریعقوب باندی راټول شول . یعقوب په۲۵۳هجری کال کښی سیستان ونیو اوپر رتبیل دکابل پرباچا باندی غلبه و موندله ، پوشنج اوهرات ئی تسخیر کړ او په ۲۵۹ کښی ئی خرا سان دطاهریانو دسلطی څخه خلاص کړ اوببا وروسته ئی دبغداد عزم وکړ ، مګر دخلیفه دورور (الموفق) په مقابل کښی یې ماته وکړه بیرته فارس ته راوګرزید اوبه۲۵۶هجری (۸۷۸مسیحی ) کښی‌وفات شو .

تریعقوب وروسته ورور یې عمرو بن‌لیث دخلیفه (المعتمد) په‌فرمان دخراسان ، سیستان اوفارس په حکومت مقرر شو او داحمد بن عبدالله خجستانی شورش‌یی دفع کړ.

هرکله چه خلیفه دده څخه ویره کوله نوځې غو ښتل چه‌دی داسمعیل سامانی سره په جنګ اخته کړی اودی پخپله ددواړو دکمزورۍ څخه استفاده وکړی او په‌آسانی او هوسایی سره خپل حکومت ته دوام‌ورکړی ، مګر په ۲۸۷ه کښی عمرو بن‌لیث په‌بلخ کښی مغلوب او اسیرشو اوبه ۲۹۰ه دبغداد په‌محبس کښی دخلیفه په‌امر، مسموم یاووژل شو .

د عمرو تر حبس وروسته د خراسان سیا هیانو د نوموړی لمسی یعنی طاهر ئې په باچاهی وټاکه، خو دی هم په ۲۹۰ه ۹۰۳ م کښی داسمعیل سامانی له خوا اسیر شو .ترهغه وروسته دصفاری کورنۍ څخه یوازی دووتنو احمد بن طاهر او خلف بن‌احمد دعمرولیث‌دلورله‌خوا دلمسی نومونه دتاریخ په کتابونو کښی یاد شوی دی .

شاعران : عمرو دلیث د څوځاتو ارتباط دادبیاتوسره ډېرزیات

دی‌ځکه چه‌یعقوب دسیستان ؤ اوسیستان دملی‌داستانونوصحنه‌وه اوده‌پخپله هم‌ددری ژبی سره‌شدیده‌علاقه‌درلوده‌لکه، چه‌دسیستان دتاریخ څخه استنباط کېږی . دهری تر فتح وروسته شاعرانوپه عربی ژبه دیعقوب ستاینه وکړه ، او یعقوب پری پوه نشو او وې‌ویل کوم‌شی چه‌زه نه‌پوهیږم نوولی‌ووبل‌شی ؟ دهغی ورځی څخه شعراؤ ملی‌ژبی ته توجه‌وکړه اودده دبیر محمدبن وصیف په‌فارسی شعرونه وویل چه‌دفارسی دلمړنۍ‌شعر لاندی وړاندی هغه ذکر شو .

نورصفاری شاعران لکه بسام‌کرد خارجی ( محمد بن‌مخلد ساکزی ) دی او د همو محمد بن‌وصیف څخه اشعار او قطعات دفارسی لمړنی شعر په‌تعقیب نقل شوی دی .

دادی دنمونی په‌توګه دمحمد بن‌وصیف ساکزی یوبل شعر لاندی نقل کېږی :

مملکتی بو د شده بی قیا س عمرو بران‌مملکت‌شد ه‌بودراس
ازحد هند تا بحد چین و ترك ازحد زنګ تابحدروم وګاس
راس ذنب گشت وبشدمملکت زر زده شد ز نحو ست نحاس
دو لت یعقوب د ر یغا بر فت ماند عقو بت بعقب بر حواس
عمر وعمر رفت وزو ماند باز مذهب رو بـاه نبل و نو اس
ای غما کـامد وشادی گذشت بود دلم دائم ازین پر هراس
هرچه بـکردیم بخواهیم دید سود ندا رد ز قضا احتر اس
ناس شدند نسناس آنګه همه واز همه نسنا س گشتند نـاس
دور فلك کردن چو ن آسیا لاجرم این‌آس همه کر د آس
ملك ابا هزل نـکرد انتساب نور ز ز ظلمت نکند اقتبا س
جهد و جد یعقوب بـا ید همی تاکه ز جده بدر آ ید ایـاس

بل دصفاریانو د نامتو شعراو څخه فیروز مشر قی دی . چه دعمرو بن‌لیث معاصرؤ ، اودنوموړی وفات‌یی په۲۸۲ یا ۲۸۳ه کښی لیکلی‌دی . دالاندی قطعه دهغه‌ده .

مرغیست خدنګ ای عجب د یدی
مر غی کـه بود شکـار او جـانـا
داده پر خو یش کرګسش هد یه
تانه‌بچه‌اش بردبهم مانا (بمهمانا)

ددی دوری دشعراو څخه بل دابوسلیك ګرګانی دی ، چه دعمرو بن‌لیث په‌زمانه (۲۶۵-۲۸۷ه) کی یې‌ژوند کاوه دالاندی قطعه دده ده :

خون خودرا گر بریزی بر زمین
به که آب روی ر یزی در کنـار
بت پر ستیدن به از مردم پر ست
پند گـیر و کـار بندو گـوشدار

سامانیان اویا آل‌سامان : (۲۶۱-۳۸۹ه) سامان‌خدا اصلا دهغه‌کلی څخه‌ؤ چه نوم ئی‌سامان ؤ او دی پخپله په ابتدا کښی زردشتی مذهب‌ؤ، اودزین الا خبار روایت کوی‌چه دمامون په واسطه‌یې ایمان راوړ ، اوزوی یی اسد دخراسان دحکمران په خدمت کی داخل‌شو ، اسدځلور زامن درلودل ، چه نوح، احمد ، الیاس‌اویحیی نومېدل،اوټول پرځلیفه ګران‌وو، دوی ورؤ، ورو دلوړو رتبو خاو ندان شول او حکومتونو ته ورسېدل . نوح په‌سمرقند ،احمد په فرغانه،یحیی په چاچ او اشر وسته کښی اوالیاس په هرات کښی حاکمان وو . په‌دغو ورونو کښی احمد دګزاری اوسلوك خاوند په شه‌والی اودتدبیر په‌قوت پرنـورو ورونو پورته ؤ دنوح تر مړینی وروسته سمرقنددهغه په‌ولایت پوری‌وتړل شو . اوپس له‌هغه څخه نصر او مخصوصـا اسمعیل دسامانیانو دترقی او پرمخ تګ باعث‌شو. دی په ۲۹۵ه کښی مړشو . سامانیانو دفارسی ژبی سره علاقه درلوده، اودشعر او شعرا ؤ دتشویق دپاره ئی کوښښ‌کاوه، ځئی‌دسامانی کورنۍ

څخه ځینو کسانو شعر وایه، لکه آغاجی او ابو ابراهیم منتصر چه‌دوی ابیات‌دتذکروپه کتابونو کښی‌قیدشویدی . د سامانیانو وزیران اغلب دفضلاو دکور نیو څخه وو لکه جیهانی، بلعمی اوعتبی، اوددوی په‌دوره کښی، بخارا د فقهاؤ، پوهانو او شاعرانو مرکز ؤ . لباب‌الالباب د۲۷ تنو پارسی ویو نکو نومونه هلته یادکړی دی .

دسامانی دوری شاعران: ابوشکوربلخی ، دنوح بن‌منصور ددربار (۳۳۱ - ۳۴۳ - ه ۹۴۰ - ۹۵۴م ) دشا عرانو څخه و، عوفی د آفرین‌نامه دکتاب، نسبت هغه‌ته کوی‌چه‌په متقارب بحرمثمن‌سالم (مکرر یامخدوف) دی. څه‌بیته دهغه څخه‌لاس‌ته راغلی دی چه داستانی مطالب ښیئی او موضوعات ئی اخلاقی دی . دالاندی منظومه چه‌په (۳۳۳ه) کښی و یل شوې ده دده ده :

مرین‌داستان کش‌بگفت ازخیال ابرسیصدسی وسه بود سال
داهم دده ده ،

از دور بد یدا ر تو نگر یستم
مجروح‌شد آن چهرهٔ پرحسن وملاحت
وز غمزهٔ توخسته‌شد آزرده دل من
وین‌حکم‌قضائی‌است جراحت به‌جراحت
ای گشته من ازغم فرا وان تو پست
شد قامت زرد ز هجران تو سست
ای شسته من ازفریب داستان تودست
خود هیچکس بسیرت وسان توهست

☆ ☆ ☆

بد شمن برت مهر بانی مباد
که‌دشمن درختی‌است تلخ‌ازنهاد
درختی که تلخش بود گوهرا
اگرچرب وشیرین دهی مرورا
هما ن میوهٔ تلخت آرد پد ید
ازو چرب‌وشیرین نخواهی‌مزید

چه فردوسی اونورو دهغه مضمون په‌بله پیرایه راوړی‌دی. دسقراط دا اندښینه چه ویلی یی دی « زماپوهه دی لحای ته رسېدلې ده چه پوه شم چه‌نه پوهېږم ، په لاندنی بیت کښې را وړې ده :

ثابه انجا رسیددانش‌من که بدانم همی که‌نادانم

بلخی ابوالموید : ټولو تذکر و داعالیمقام شاعر یادکړی دی اوهم دلغت په کتابونو کښی اغلب اشعار دده څخه نقل شوی‌دی، دی په‌نثرسره یوشاهنامه لری چه په تاریخ سیستان ، مجمل‌التواریخ، دتاریخ طبری په‌ترجمه، قابو سنامه اوپه تاریخ دطبرستان کښی هغی ته راجع اشاری شته دی . ده یوه بله منظومه دیوسف وزلیخا په‌نامه درلوده، دهغه یوسف د زلیخا په مقدمه کښی چه‌په غلط سره ئی فردوسی ته نسبت شوی دی ده څخه یادونه شویده :

مراین‌قصه‌راپارسی کرده‌اند بدو در معانی بگسترده اند
یکی(بوالمؤید) که‌ازبلخ‌بود بدانش‌همی خویشتن راستود

دسیستان‌په تاریخ کښی دده دشاهنامی یوه برخه ذکرشوې ده چه یوخورا زوړ اوفصیح نثردی . او دیوبل کتاب نسبت هم ده‌ته‌شوی‌دی چه‌نومئی (عجائب بحروبر - یاعجائب‌البلدان ) دی .

خبازی نیشاپوری : دسامانی عصردشاعرانو څخه دی اوپه ۳۴۲ه کښی مړشویدی دده ټول اشعار ورک‌دی . دالاندی دوه شعرونه چه دیوی قصیدی د گریز جز دی دده دی :

می بینی آن دوزلف که بادش همی‌برد
گوئی که‌عاشقی است که‌هیچش قرار نیست
یانه که دست حاجب سالار کشور است
کنز دور می نماید کامروز یار نیست

منجیك ابوالحسن علی بن‌محمد ترمذی : د څلرمی پیړی دنامتو شاعرانو څخه دی، اوپه هزل‌کښی یی لوی لاس درلود لکه چه سوزنی وائی :

من آنکسم که چو کردم بهجو کردن رای
هزار منجیك اندر برم ندارد پای

منجیك دابوالمظفر طاهر بن‌فضل محمدمظفر چغانی‌معاصر دی، اوپه ۳۷۷ یا ۳۸۰ه کښی مړشوی‌دی. دالاندی دوه‌قطعی دده دی :

نکوگل دورنگ‌را نگه‌کن در است بزیر عقیق ساده
باعاشق و معشوق روز خلوت رخساره برخساره بر نهاده
ای بدربای عقل کر ده شنا وزبدونیك روزگار آگاه
نان فروزن بآب دیدهٔ خویش وز درهیچ سفله شیر مخواه

ابوالحسن‌شهید بلخی: دخپلی زمانی دلویو شاعرانوخخه ؤ اوپه عربی اوفارسی ئی شعرونه ویل . فرخی‌دده غزل په‌نغزی اوغوزوالی کښی ستائی . ده په فلسفه کښی لاس درلود او مباحثی ئی دمحمد بن‌زکریای رازی‌سره مشهوری دی. رودکی دده دمړینی په باره کښی یوه شپه مرثیه ویلې ده . دده دوفات کال غالبا ۳۷۵ کال دی . دالاندی شعر دهغه دی :

دانشاچون دریغم آید از آنك بی‌بهائی‌ولیکن‌از تو بهااست
بی‌تو ازخواسته مبادم گنج همچنین زارو ارباتورواست
باادب را ادب سپاه بسست بی‌ادب باهزارکس تنهااست

عمارهٔ مروزی : ابو منصور عماره بن محمد مروی د څلرمی پیړۍ دوروستیو شعراوشخه دی چه په ۳٦٥ه کښی مړ شویدی دالاندینۍ قطعه دده ده :

جهان زبرف اگر چند گاه سیمین بود
زمرد آمد وبگرفت جای تو دهٔ سیم
بهار خانهٔ کشمیریان بوقت بهار
بباغ گردهمه نقش خویشتن تسلیم
بدور باد همه‌روی آبگیر نگر
پشیزه ساخته برشکل پشت‌ماهی شیم

خسروی سرخسی : نوم‌ئی محمد بن‌علی او کنیت‌ئی ابوبکر دی ، دعتبی په‌تاریخ کښی دده نوم ذکر شوی‌دی . د لغت فرس په کتاب کښی ۲۷،په‌لباب‌الالباب کښی۲۱ ، او په‌درالعجم کښی ۷ بیتونه دهغه‌نقل شوی‌دی . ده په‌فلسفه کښی‌هم لاس در لود نوموړی د۳۸٦ کال په‌شاوخوا کښی وفات شوی‌دی .

دالاندی بیتونه دده‌دی .

ای بسا خسته کز فلك بینم — بی‌سلاحی همیشه افگار است
وی‌بسا بسته کزنوایب چرخ — بند پنهان واو گرفتاراست
وی‌بسا کشتگان که گردون‌راست — ندودخون و کشته بسیاراست

حکیم کسائی مروزی : (۳٤۱تر۳۹۱ه ) نظامی عروضی دده کنیه ابوالحسن اودمجم‌الفصحاء خاوند ابواسحق اولقب ئی مجدالدین بولی . کسائی دخراسان‌دشعراؤ څخه‌دی اواشعار ئی په‌لطافت سره ممتازدی . دی‌په۳٤۱ کښی زیږ پدلی اوتر ۳۹۱ (۳٤۱ - ٥۰) پوری‌ئی ژوند کړی دی . دالاندی اشعار دده نازك خیالی څرګندوی :

نیلوفر کبود نگه کن میان آب
چون تیغ آب داده و یاقوت آبدار
همرنگ آسمان و بکردار آسمان
زرد یش در میانه چوماه ده وچهار
چون‌راهبی که دوزخ اوسال ماه وزرد
وز مطرف کبود روا کرده وآزار
گل‌نعمتی است‌هد یه فرستاده از بهشت
مردم کریمترشوند اندر نعیم گل
ای گل فروش گل‌چه‌فروشی برای سیم
وز گل عزیز تر چه‌ستانی بسیم گل

ابو عبدالله محمد بن‌صالح ولوالجی (رستاقی) : هدایت په مجمع الفصحاء اوعلامی قزوینی دچهارمقاله په‌حواشی کښی دی نوائی شهرلی‌دی . دده دژوند څخه نور خبر په‌لاس نشته دی: لاندی شعر دهغه‌دی :

جعد برسیمین پیشانیش گوئی که‌مگر
لشکرزنگ‌همی غارت بغداد کند
وآن سیه‌زلف بران‌عارضی گوئی که‌همی
به پر زاغ کی آتش را باد کند

ابوطاهر بن‌محمد خسروانی: دده دزیږدنی کال نه‌دی‌معلوم مګر مجمع الفصحاء (۳٤۲) لیکی . دالاندی بیت دهغه دی .

جوانی من از کودکی یاددارم — دریغا جوانی دریغاجوانی

فردوسی ددغه بیت په‌تضمین وائی :

بیاد جوانی کنون مویه آرم — بدین‌بیت بوطاهر خسروانی

ابوالعباس فضل‌بن‌عباس رنجنی: دځلرمی پیړۍ دشاعرانو اودنصر بن احمد سامانی (۳۰۱ - ۳۳۱ ه ) اودنوح بن نصر (۳۳۱ - ۳٤۳ه) معاصرؤ . ده دنصر په‌تعزیت اودنوح په‌تهنیت کښی یوه قصیده هم لری .

پادشاهی گذشت خوب نژاد — پادشاهی نشست فرخ زاد
زان گذشته زمانیان غمگین — زین نشسته جهانیان دلشاد
بنگراکنون بچشم‌عقل‌وبگو — هرچه برما زایزد آمدداد
گر چراغی زپیش مابرداشت — باز شمعی بجای او بنهاد
ورزحل نحس‌خویش پیداکرد — مشتری نیز داد خویش بداد

ابو عبدالله محمد بن‌حسن معروفی بلخی : دده دژوند څخه اطلاع نشته . دالاندی قطعه ئی دعبدالملك بن نوح په مدح کښی ویلی‌ده .

ای آنکه مرعد ورا صبری و حنظلی
وی آنکه مردلی‌را شهدی و شکری
آنجا که پیش بینی باید مو فقی
وانجا که پیش دستی باید مظفری

ابوالحسن علی بن محمدغزوانی لوکری: دنوح بن‌منصور معاصرؤ اودنوح وزیر ( ابوالحسین عبدالله بن‌احمد عتبی)مدح‌ئې کړیده دالاندی قطعه ئې دعتبی په مدح کښی لباب الالبا نقل کړې ده:

زعنبر زره دارد او بر سمن — زسنبل گره دارد او برقمر
برون برد ازچشم‌سودای خواب — در آورد در دل‌هوای سفر
بتا بید سخت و بپیچید سست — بگرد کمر گاه دستار سر
شتابان بیامد سوی کوهسار — به‌آهستگی کردهرسو نظر
برآوردازان وهم‌پیکر میان — یکی زرد گویای ناجانور
نه‌بلبل زبلبل به‌دستان فزون — نه‌طوطی‌زطوطی سخنگوی‌تر
چودوشیزه گان‌زیر پرده نهان — چودوشیزه‌سفته‌همه‌روی‌وبر
زبسد به زرینهٔ نی در دمید — به ارسال‌نی داد دم را گذر
برخ برزدآن‌زلف‌عنبر فراش — به‌نی برزد انگشت وقت‌صحر
همی گفت درنی که‌ای‌لوکری — غم خدمت‌شاه خوردی مخور

دسامانی عصر دشاعرانو څخه نور بدیع بلخی ، استغنا ئی نیشاپوری ، ترکی کشی ایلاقی ، ابو المؤید رو نقی بخاری ، معنوی بخارائی ، رودکی او دقیقی‌دی ، چه مونږ دلته ددقیقی بلخی اورودکی سمرقندی څخه په‌لنډ ډول یادونه کوو :

دقیقی بلخی : ابومنصوردقیقی بلخی، دځلرمی پیړۍ دنامتو ویونکو ( سخنورانو) څخه‌دی دده دزیږیدنی‌تاریخ نه‌دی‌معلوم ښائی چه‌د ۳۰۰ او ۳۵۰ ترمنځ دنیاته‌راغلی‌وی دوفات تاریخ‌ئی ۳٦۷ کال په‌شاوخوا کښی‌دی ، دادی‌چه‌مونږ دده دادبیاتو څخه دنمونی په‌توګه دګشتاسپنامی څخه انتخاب کوو :

چو گستاشب برشد به تخت پدر
که فر پدر داشت وبخت پدر
بسر بر نهاد آن پدر داده تاج
که زیبنده باشد به آزاده تاج
منم گفت یزدان پرستنده شاه
مرا ایزد پاك داد این کلاه
بدان داد ما را کلاه بزرگ
که بیرون کنیم ازرمه‌میش‌وگرگ
سوی راه یزدان ببازیم چنگ
برآزاده گیتی نداریم تنگ
چوآیین شاهان بجای آوریم
بدان را به دین خدای آوریم
چو یك چند گاهی برآمد برین
درختی پدید آمد اندر زمین
زایوان گستاسپ تا پیش کاخ
درختی گلشن بیخ وبسیار شاخ
همه برگ او پند وبارش خرد
کسی کو چنان برخورد کی‌مرد
یکی پاك پیدا شد اندر ز مان
بدست اندرش مجمرو عود وبان
خجسته پئی نام او زرد هشت
که اهریمن بدکنش را بکشت
بشاه جهان گفت پیغمبرم
ترا سوی یزدان همی رهبرم
(دقیقی دی وکتله شی)

رودکی: دده‌نوم جعفر او د پلار نوم ئی محمد او کینه ئی ابوعبدالله‌دی زیږنتون ئی‌په‌سمرقند کښی رودك نومی یو کلی دی اوپه‌همدی سبب‌ئی رودکی بولی د نوموړی دزیږیدنی نیټه نه‌ده معلومه دوفات تاریخ‌ئی په صحیحو اقوالو ۳۲۹ کال وی مدفن‌ئی دپنج کلی‌دی چه‌درودك دقصبی دلواحقو څخه بلل کیږی

رودکی د شعر په زیاتوالی سره شهرت لری . عوفی وایی چه دیوان ئی‌سل دفتروته رسیږی . سمرقندی رشیدی وایی : چه‌داشعارو شمیر ئی یوملیون او دری سوو زروته رسیږی دنوموړی د«مادرمی» قصیده دپارسی‌ژبی دشاهکارو آ ثارو څخه‌دی دادی چه یوه اندازه‌ئی دلته راوړو :

مادرمی را بکرد باید قربان
بچه اورا گرفت وکرد زندان
بچه او را ازو گرفت نتوانی
تاش‌نکو بی‌نخست وزونکشی جان
گرچه نباشدحلال دوربکردن
بچهٔ کوچك‌زشیر مادر وپستان
تا نخورد شیر هفت مه به تمامی
ازسر اردی بهشت تابن آبان
آنگه شاید ز روی دین دره داد
بچه بزندان تنگ مادر قربان
چون بسپاری‌بحبس بچه او را
هفت شبان‌روز خیره‌ما ندوحیران
باز چو آید به‌هوش باز به بیند
جوش بر آرد بنالد ازدل سوزان
(رودکی دی وکتل‌شی)

رابعه قزداری بلخی: درودکی معاصره وه اودپلار نوم‌ئی کعبؤ داپخپله عربه وه مګر په بلخ کښی زیږدلې اوهلته روزله شوې‌وه . په فارسی اوعربی کښی‌ئی شعر وایه اودفارسی ژبی دخورا پخوانو شاعرانو څخه وه دالا ندی دوه بیته دهغی دی :

دعوت من برتو آن شد کایزدت عاشق کناد
بریکی سنګین دل نا مهربان چون خویشتن
تابدانی درد عشق و داغ هجرو غم کسی
چون به هجر اندر په پیچی پس بدانی قدرمن

دسامانی‌دورې نثر : څرنګه چه‌مو دفارسی د خوراپخوانی نظم اونثر په بحث کښی ولیدل دفارسی ډیر پخوانی نظمی آثار د دریمی پیړۍ داواسطو څخه زمونږ لاس ته راغلی اوډیر پخوانی فارسی نثر دځلرمی پیړۍ داواسطو څخه دی اوفارسی نثر تقریبا یوه پیړۍ وروسته پیداشوی‌دی دسامانی دورې دنثرڅخه محدود آثار پاته دی چه اصلا هم ښائی نثری آثار به‌ډیر نه‌وو لکه چه دهغی دورې د پوهانو تالیفات اکثرا په‌عربی‌وو ، اویوازی علمی یاتاریخی کتابونه په فارسی لیکل شویدی . دسامانی دورې نثری آثار هغه وو چه دفارسی نثر دپخوانو آثارو په ترڅ کښی ذکر شول دادی چه دلته په‌لنډول سره دهغونومونه ذکر کوو :

۱ دشاهنامهٔ ابومنصوری مقدمه : چه دابومنصور المعمری دخوا دابومنصور محمد بن عبدالرزاق په نامه لیکل شوې ده دشاهنامی مقدمه منثوره وه چه بیائی فردوسی منظومه کړه اوډیره زمانه دامقدمه دفردوسی دشاهنامی په اول کی موجوده وه خودبایسنقر میرزای گورگان په وخت کښی ددې مقدمی پرځای یوه بله مقدمه کښېښودله شوه ددې مقدمی دلیکلو تاریخ د۳۵۶ هجری کال دمحرم میاشت دی .

۲: دتاریخ طبری ترجمه: چه اصل ئی په عربی اونوم ئی (تاریخ الرسل والملوك) ؤ مولف ئی ابی‌جعفر محمد بن جریر طبری (متوفی ۳۱۰ه) دی چه ابوعلی محمد بن محمد بلعمی دمنصور بن نوح سامانی په امر سره ترجمه کړیده . ابو علی بلعمی دبلعمیانو دعلمی کورنۍ څخه دوهم وزیردی .

۳ : دتفسیر طبری ترجمه اصل ئی په عربی اودمحمد بن جریر طبری دآثاروڅخه دی‌چه د ماوراءالنهر دیو شمېر علماؤ دخوا دمنصوربن‌نوح په‌امر ترجمه شوېدی اوښائی چه د تاریخ طبری دترجمی څخه یوکال وړاندی یاوروسته داترجمه شوی وی .

٤ ـ حدودالعالم من‌المشرق الی‌المغرب : دا کتاب ۳۷۲ه کښی دامیر ابوالحارث‌محمد بن‌احمدبن‌قریغون دپاره‌ دافغانستان په‌ګوزګانانو کښی لیکل شوی‌دی اومولف ئی نه‌دی معلوم.

۵ ـ عجایب البلدان‌اوګرشاسنپامه او دشاهنامه دابوالمؤید بلخی چه‌لومړی ئې دکاتبانو له‌خوا لاس یکښی وهلی شوی او ددوهم اوډیرم کتاب څه فصلونه ئې په‌مجمل التو ار یخ اوپه تاریخ سیستان کی‌نقل شوی‌دی .

٦ ـ رساله شش فصله او رساله استخراج : چه مؤلف ئې محمدبن‌ایوب‌طبری‌دی‌اوظاهراً په۳۷۲ه کال کی‌تالیف‌شوی‌دی.

۷ ـ الابنیة عن‌حقایق الادویه ، دحکیم موفق‌الدین ابومنصور علی‌الهروی تالیف دی چه‌دهغه په‌انتساب کی دمنصور بن نوح عهدتر (۳۵۰ ـ ۳٦۵ه ) لانراوسه تردید شته .

لکه چه‌وړاندی ذکرشول دهغه وخت لیکو نکو اکثره خیل آثار په‌عربی‌ژبه‌لیکل اواکثره امراً اووزیران اومنشیان په‌عربی ژبه ښه‌پوهېدل ، موږ دلته‌یوالحی ددوی په‌نومو اکتفا کوو ددغو لیکونکو او فقهاؤ په صدر کی کابلی حضرت امام ابو حنیفه نعمان بن ثابت د حنفی مذهب مؤسس چه‌دفقه دسترو علماؤڅخه ګڼل کیږی‌ؤ،چه‌د۸۰ هجری په‌شاو خوا کی‌زیږیدلی اویه۱۵۰هجری کال کی‌ئې رحلت کړی دی ، دده (الفقه‌الاکبر) کتاب چه‌د اسلامی فقه‌مسئلی‌یکښې‌دی دبشرداستدلال اوفکرت خزانو څخه‌یوه لویه خزانه ګڼله کیږی ، پرته له عربو څخه نور مشهور لیکونکی لکه عبدالله بن مقفع چه‌د کلیلې دمنې اودنورو پهلوی آثارو په‌عربی ژبه‌مترجم‌دی چه دهجری دوهم قرن په‌اوائلو کی په‌فارس کی‌زیږیدلی‌دی ، اودغو دعلماؤڅخه دالکتاب عنبتن سبویه دی‌چه‌د۱۵٦ کال په‌شاوخوا کی‌په‌فارس کی زیږیدلی‌دی . اوپه۱۹٤ کی‌وفات‌شوی‌دی ، اودمشهورو شعراو څخه‌یو دافغانستان تخارستانی بشاربن‌برد ، دی اوبل‌ابو نواس اهوازی‌دی اودمعروفو متجمینو څخه دموسی اولاده ده‌موسی بن شاکر خوارزمی زامن . بل‌ابومعشر بلخی‌دی چه‌په ۲۷۲ کی وفات اوددغی دوری دلویو پوهانو او سترو منجمینو څخه‌دی چه‌زیات آثار ئی‌اوس شته . بل‌دهغه زمانې دفاضلانو څخه ابن قتیبه‌دی چه‌په(۲۷٦ه)وفات اودعیون الاخبار اودنورو تالیفاتو څښتن دی. بل دینوری دی‌چه‌په(۲۸۱ یا ۲۹۰ه) وفات‌شوی‌دی اوبل ابن فقیه‌دی چه‌په(۲۹۰ه) وفات‌شوی‌دی،اومحمد بن‌یعقوب کلینی‌دی (۳۲۹ه) اوبابویه په(۳۸۱ کی‌وفات شوی اومحمدبن جریر طبری دی چه‌په (۳۱۰ه) کی‌وفات‌شوی اوابوبکر محمد بن زکریای رازی (۲٤۰ ـ ۳۲۰ ه ) داټول‌دهغه‌وخت دفضلاو اوفقهاؤ څخه‌دی، بل دهغه وخت‌دنامتوعلماؤ څخه حکیم‌ابونصر فارابی دی چه‌په (۳۳۹ه) کی وفات شوی او ډیر تالیفات ئې درلودل ، اوپه حکمت اوفلسفه اوموسیقی کی دهغی زمانی ستوری‌دی اوترارسطو وروسته‌چه‌لومړی معلم‌دی ده‌ته‌ئې‌ددوهم معلم لقب ورکړی‌دی .

## دسامانی‌دورې‌دنثراونظم‌مختصات :

دسامانیانو دنثری اونظمی دورې دمختصاتو دبیان د پاره هرمرو باید لومړی دفارسی د مختلفو دورو نثراونظم دسبکو شرح ولیکو اودهری دورې‌مختصات دهغې زمانی دمعمول‌سبك سره بیان کوو:سبك‌یا (Style) په‌تازی لغت کی دسرواوسپینو زرو ویلولو اوتویولو ته‌وایی ، اودنن ورځی دادباؤ په‌اصلاح کی دنثر یانظم دیوه خاص طرز ، اودتعبیر دطرز اود الفاظو دانتخاب اود کلمو دترکیب په‌وسیله داڅکلارو بیان اوادراك په معنی‌دی . اوهغه پوهه اودانش‌چه‌دیوې ژبی دمختلفو سبکوڅخه څیړنه کوی سبك پېژندنه بلله کیږی، دنوع‌سره دسبك تفاوت دادی چه‌نوع‌دهغه ادبی شکل څخه‌عبارت دی‌چه‌شاعرئې خیل‌اثر ته ورکوی ،مثلا عرفی اوعنصری قصیدې دمشترك شعرنوع ده هګر دسبك له‌حیثه پوره توپیر سره لری ، متقد مینو کله دسبك یوځای ، فن ، طرز اوکله‌به‌ئې طریقه اوشیوه استعمالوله اوپه لحینو ورستنیو تذکرو کی‌ئې دسبك په‌عوض دمتقدمینو طریقه، طرز اوادا استعمالوله ، اودمجمع الفصحاء خاوند طرز ، شیوه سیاق ، طریقه په‌لومړی سرکی‌سبك بولی : تذکره لیکونکی دهرشاعر دشعری مختصاتو اوسبکو دامتیاز په وجود کی دفن دلارې نه‌دی راغلی ، اکثروئې‌دشاعرانو په‌باب په‌افراق‌امیزه او مسجعو اوموزونو عباراتو سره خیله نظریه‌ښکاره کړیده . سبك پېژندنه دنن ورځی په‌معنی‌ډیره تازه ، اود معاصرینوڅخه هغو چه په‌دې لار کی ئې ترنورو زیات زحمت ایستلی اودې‌فن

پر شو نکو ئې احسان او منت اوبی‌دی دبهار ملك الشعراءدی چه‌ددې موضوع په‌باب کی ډېر ځله‌ډده دمتالو او آ ثارو څخه زیاته‌استفاده شوی‌ده .

تاریخی‌دوری‌اودشعرسبك : دشعرسبك یعنی‌تول کلمات اولغات اودهغوی ترکیب دژبی‌دقواعدوڅه‌لحاظ، اودهری کلمی دمعانیو مفاد په‌هغی‌زمانه کښی اودتخیل‌څرنگه والی اودشاعر دروحی حالاتو به‌لحاظ ، دهغو تخیلاتو ادا چه‌دهری ، دوری دمحیط په تاثیر اودمعیشت په‌څرنگه والی او علومو اومادی‌اومعنوی‌ژوند پوری مربوط وی . کوم‌شی چه‌ددغو کلیاتو څخه حاصل کېږی شعر ته یوخاص رنگ اواوبوور کوی چه‌هغه‌سبك‌بولی . فارسی شعر په‌عمومی ډول،دځلورو سبکونو دسیطری اوتسلط دچوکات څخه نه‌وزی داځلور سبکونه په‌فارسی‌ژبه کښی دشعر دسبکونو اصل اومبدأدی چه‌دخیل نفوذ په‌دوره کښی دفارسی ژبی تولو سخنورانو دهغو پیروی اوتقلید کړی دی .

۱ ــ خراسانی یاترکستانی‌سبك .
۲ ــ عراقی سبك .
٤ ــ هندی سبك .
٤ــ بیرته ادبی اوښتنه یانوی سبکونه .

داسبکونه متعدد مکتبونه لری چه دهریوه خصوصیات د نورو دجزو یاتو څخه متفاوت دی اوپه کلیاتو کښی دهغه تابع دی . پر ته لهدې ، د «بین بین» سبك‌هم‌شته او دې سبك ښوونکی در لودل .

دخراسانی سبك مبداء دځلورمی پېړۍ دنیمائی‌څخه شروع شوې اوبیا د شپږمې پېړۍ ترنیمائی پوری رسېږی . عراقی سبك داومی پېړۍ دشروع‌څخه‌بدایت موندلی اودلسمی پېړۍ اواخرو ته‌رسېږی . هندی‌سبك د لسمی پېړۍ څخه ترنن‌ورځی پوری دوام‌لری . اوخراسانی او عراقی دودوته بیرته گرزیدنه ددولسمی پېړۍ څخه تراوسه پوری په ایران کښی شته‌ده .

احیراً یو نوی مکتب پیدا شوی دی چه خورا نوی افکار او عقایدئی په‌زاړه سبك اړولی دی ، یعنی فکریی دنن ورځی څخه او تومنه د قدماؤ څخه اخلی او په‌عین زمان کښی داسی ځوانان شاعران هم شته‌دی چه په وزن ، اسلوب اوکلماتو کښی تجدد ته قایل شویدی اوبه امتحان بوخت دی .

کومه‌نکته چه دسبکونو په‌نوم اښودلو کښی باید په نظر کښی ونیولەشی‌داده چه‌خراسانی سبك دخراسان دپاره مخصوص نه‌دی ،ځکه چه نوموړی سبك په‌لوی‌سر کښی په خراسان کښی پیداشوی‌دی، نوبه‌دغه‌نوم یادشوی‌دی ،نوبه‌دې‌ترتیب دخراسانی سبك په دورو کښی دفارسی شا عرانو تول آ ثار ا و حتی هغه آثار چه په عراق کښی پیدا شویدی ، په‌ژبی پوری مربوط دی نه‌به‌ځای پوری ، په‌دی‌معنی چه هره یوه دپور تنیو طریقو څخه څه‌موده دفارسی ژبی په‌تولو ناحیو کښی‌معمول او متداوله وه. او دا بوالځی دنظم خاصه هم نه‌ده بلکه د نثر په بازه کښی هم مصداق لری ، اوچه دنثر دشروع تاریخ تراسلام وروسته یوه پېړۍ له‌نظم‌څخه مؤخردی ، داحول اوتغیر په‌فارسی نثر کښی هم یوه‌پېړۍ وروسته ترنظم پیداشوی دی ، نو داچه لومړنی سبك دخراسانی سبك‌دی: داددې کبله‌چه دشعر اوادبیاتوشروع تر تولو دمخه د خر ا سان (یعنی افغا نستان) په بر اخه او مرد زایه مځکه کښې راغلی ده او دفارسی ژبی بهلوانان او قهرمانان ددې‌فضل پردې‌ناحیې څخه پاڅېدلی‌دی . ځینو لیکوالو دسبکونو په‌ویشلو کښی دیوه‌بل‌سبك ،دفارسی سبك په‌نامه یاد کړی‌دی اوشعرئی دعراقی سبك‌څخه بېل اوممتاز ګڼلی دی، اما باید په نظر کښی و نیول شی چه ددی تقسیما تو څخه مطلب دکلیت او عمومیت په لحاظ دی، اوکه موږ جزئی ممیزاتو ته اعتبار ورکړو نوبیوشمېر زیات سبکونه باید ذکر کړو او حتی دهر شاعر دپاره یوخاص اوبېل سبك وپرانیزو .

داروپائی ادب دتقسیماتو سره دفارسی سبکونو په تطبیق کی ویلای‌شوای‌چه‌حقیقت کښی‌دخراسانی سبك‌څخه زمونږمراد هغه‌رئالیسم (Realism) او دعراقی سبك څخه هغه‌ناتورالیسم ( Naturalism ) ا و د هندی سبك څخه ( ا مپر یسیو نیز م Imprissionism )دی . او په دې ترڅ کښی د سمبو لیسم (Symbolism) شا عران چه اکثرا متصو فین دی دېبل سبك خاوندان نه‌دی بلل‌شوی .

البته کله کله د اروپا په ا دبیا تو کښی دا سی سبکو نه موجود وو، چه هغه روش د پارسی په ادبیاتو کښی‌بیخی نه‌دی لیدل شوی . داروپا په ادبیاتو کښی ډومبنی دوره چه وړاندی راغلې‌ده ، دکلاسیك دوره ده ، ځکه چه‌اروپائیان دیو نان او دروم تمدن وارثان‌وو ، اوپه‌ادبیاتو کښی یې‌اول دیونان اوروم دادبیاتو تقلید وکاوه ، او دوی مکلف‌وو چه‌له‌هغو اصولو څخه چه‌دیونان په‌ادبیاتو کښی وضع شوی‌دی مخالف و نه کړی، او یوالځی دهغې دوری دلیکونکو تقلید و نکړی . مهم اصول چه په‌هغه‌دوره کښی دیونان اوروم په ادبیاتو کښی وضع شوی‌وو، هغه‌دریو واحدو قانونوؤ ،یعنی واحد زمان ،واحدمکان اوواحد عمل و ، په‌دې توګه چه لیکو نکی مجبور ؤ چه پخیل ادبی‌اثر کښی‌تولی بیښی په‌یوه زمانه او یومکان کښی راولی او یوعمل څخه بل‌عمل‌ته تلل روانه ؤ ، او په جز ئیاتو کښی لیکونکی مجبور و، چه یوالځی د هغو افکارو او احساساتو تقلید وکوی چه دیونان او روم لیکو نکو پخیلو اثارو کښی را وړی وی ، اوهرڅه چه‌ولیکی بایدچه دیونان اوروم له تمدن اوتاریخ څخه اخیستی‌شوی وی، اودغه سبك بی‌له‌دی جهته‌د کلاسیك سبك‌باله،

چه کوم سړی د یونان او روم د ادبیاتو درس نه‌وایه او پخیل ذهن کښی به یې هغه ته ځای نه‌ؤ ورکړی او دهغه سرمشق له‌مخی به یې کار نه‌کاوه نو دهغه‌اثر به ادبی اثر نه باله کیدو .

داروپا دادبیاتودوهمه دوره د(رمان تیك Romantic ) .وره‌ده چه‌د یوڅلسمی پیړۍ په‌اول کښی ړومبی‌په‌فرانسه کی ، او له‌هغه وروسته په‌آلمان اوانګلستان کښی لیکونکی پیداشول ، اود کلاسیك دادبیاتو اصول یې مات کړل او ددریو واحدو قانون یې برېښود ، اواجازه یې ورکړه چه‌دهر شاعراوهر لیکونکی پخیل فکر آزاددی په‌هره زمانه کښی‌چه‌غواړی اوهرډول کلمی چه یې زړه و غواړی او لازم‌ئی وبولی هغه کلمی دې راوړی، اوددې پرځای چه‌خپل مضامین د یونان او روم له‌ادبیاتو څخه واخلی آزاددی چه‌له وروستنیو دورو څخه یې اخذ کړی. اود پاړسی په‌ادبیاتو کښی‌د کلاسیك دوره اودروماتیك دوره‌نه شی راتلای ، ځکه چه‌په‌پاړسی ژبه کښی د اروپائی ژبو په‌عکس ړومبنیء ادبی اثرچه‌په‌پاړسی کښی پیداشوی‌دی دنورو دادبیاتو پیروی اوتقلید پکښی نه‌ؤ ، اوبالخاصه دیونان اوروم تقلیدیې هیڅ نه‌دی کړی‌چه‌د کلاسیك دوره ولری . اوله هغه وروسته یې هم‌دمسیحیت له‌تمدن څخه څه‌شی‌نه‌دی اخیستی چه‌دروماتیك دوره پیداشوې وای .

د پاړسی ژبی ړومبنیء دوره رئالیسم وه ، وروسته له‌هغه د ناتوریالیسم مورده‌وه ، اوله‌هغې وروسته دسمبولیسم دوره‌وه، له‌هغې‌وروسته بیادامیرسونیسم‌دوره‌پیداشوې‌ده. دانکته هم‌باید‌په نظر کښی ونیولەشی:هره‌دوره چه‌وروسته‌راغلې‌ده‌له‌هغې‌وړاندی دوره‌یی بیخی‌له‌منځه‌نه‌ده وړې، لکه‌چه‌دناتوریالیسم ډېرشاعران دی‌چه‌درئالیسم په‌سبك هم‌آثارلری ، اوپه‌همدغه‌شان‌دسمبولیسم د سبك شاعران دناتو ریالیسم آثارلری او ډېر امیرسو مینتان دی چه‌دسمبولیسم‌آثارلری: اوله‌همدغه کبله‌دی چه‌په ورو ستیو دورو کښی‌ده‌پاړاندی‌دورو دسبك‌شاعران‌شته:لکه‌چه‌دامیرسونیسم په‌سبك کښی هم درئالیسم‌اوناتوریالیسم اوسمبولیسم‌شاعران‌وو . اوس دادی د دغو پورتنیو سبکو دهر یوه تعریف دلته کوو :

رئالیسم هغه‌سبك‌دی چه دطبیعت‌ټول‌واقعی‌اوحقیقی محسوس‌مظاهر که‌بنه‌وی او که بدبنکاره کوی ، اوددې کوشش نه‌کوی چه‌د هغه لحینی مظاهر پټ کړی. اویاتغیر ورکړی چه‌بنکولتوب یې ځر ګنډ کړی بلکه هرڅه چه‌وی په‌هغه ډول‌بی بیان کوی .

ناتور یالیسم هغه سبك‌دی چه په‌هغه کښی کوشش کوی‌چه‌د طبیعت بنکولتوب بیان اوځر ګنډ کړی ، یعنی هرڅه چه‌وی په هغه‌شان یې ځر ګنډاو بیان کړی ، اوپه‌دې‌سبك کښی که وغواړی دطبیعت بدی‌ې بنکاره کړی اوهغوته‌بنکولا ورکړی اوپه‌بنایسته صورت یې ځر ګنډ کړی . سمبولیسم هغه سبك‌دی چه‌دسنت یانو په‌ادبیاتو کښی پیدا شوی‌دی او زیات تشبیهات یې کړی دی‌او ددغوتشبیهاتو په‌نتیجه کښی دهریوه صفاتواوافکارو اواحساساتو نماینده اومظهر او سمبول موندلی‌دی ، لکه دښکولی قد اود ګل بنه‌والی اومظهراوبنکولی‌مخ‌اودنرګس او دستر ګوبنکولا اوداټول مظاهر اوسمبولونه هغه‌څیز اوهغه فکر په‌یاد راولی. اوویونکی او یالیکونکی ددې پرځای چه پخیل اثر کښی چه شیان اوافکار صریحاً ذکراوباد کړی ، یوالخی د هغه بنکولااو سمبول ذکر کوی ، یا پخوانیو ادبی اصطلاح یوالخی هغه څیز ذکر کوی چه‌پخپله له‌هغه څخه کنایې وی . په حقیقت کښی سمبولیسم دانسان له‌روح‌سره دشیانو د پټو روابطو بیانول‌دی.

امپرسونیسم ، هغه‌سبك دی چه‌په اد بیاتو کښی مظهر او ګنایې اوسمبول هم‌بنکاره نه‌بیانوی او کومه نتیجه چه له هغې کنایې او مظهر څخه په‌ذهن کښی راشی تقویه کوی ، یعنی کوم اثری چه‌هغه مظهر اوهغه کنایې یې په ذهن کښی ځای کړی وی‌بیانوی ؛ اوادب په اصطلاح دې ته استعاره وایی . دامپرسونیزم‌په‌سبك کښی‌شاعران‌کله‌کله دومره باریکی کوی چه‌شعر دیوې معما به‌څېرراشی ، اوکله‌کله داستعارې لمن دومره اوږده شی چه له حقیقت څخه بیخی لېرې‌شی ، اوداسی بنکاره کېږی چه شاعر ملنډی کوی .

دخراسانی سبك خواص په‌لاندی توګه‌دی :

---

۱ ــ له‌عربی لغاتو څخه خالی کېده : دسامانی دوری په نظم اونثر کښی چه‌دخراسانی سبك ډیره یخوانی برخه ده‌بی‌له لحینی دینی ، اداری اوسیاسی لغاتو څخه چه‌په فارسی ژبه کښی دهغو معادل نه‌وو نورعربی لغات نه‌استعمالیدل ، اوپه‌دې دوره کښی‌دحج ، جهاد اومحتسب اوداسی نوری کلمی په‌نظم‌اونثر کښی راوړې‌شوی‌دی اودینی لغات چه په‌پاړسی کی‌به‌یې معادل درلود دهغه دپاړسی معادل لغتونه به لکه‌نماز اوروژه دعربی دصوم اوصلوة په‌عوض کښې لیکل کېدل .

اوږغزنویانو په‌دوره کی دفارسی ژبی‌په‌نظم کښی دعربی لغاتو استعمال شروع‌شوی‌دی، اومخصوصاًدیوان داحمد بن‌حسن میمندی له‌خوا په عربی شوی‌دی . اود پنځمی هجری پیړۍ له نیمائی څخه وروسته په‌نثر کښی چه له‌ساده لاری څخه‌فنی‌خواته ګرزی ، ګران اوسخت لغات پرېښودل‌شوی‌دی اودهغو پرځای بنه‌لطیف اوښه‌روان عربی لغات‌استعمال شوی‌دی اوځینی ساده کلمی پاته‌شوی دی، اوترادف اوتفنن له‌لاری پاړسی‌ته‌تللی‌دی.

اودیوې پیړۍ په موده کښی چه فارسی لغات وبنکل شول نو لویه رخنه پیداشوه او زیات عربی لغات په‌زیات حرص‌به‌فارسی کښی داخل شول ، اوپه وروستنیو دورو کښی وداسی اند ازې ته‌ورسیدل چه‌پرته له‌افعالو اوروابطو څخه نوره‌ټوله عربی‌شوه اوددې علت‌داؤ ، چه‌په علمرمه او پنځمه هجری پیړۍ کښی په عربی‌ژبه کښی بلاغت زیاته ترقی وکړه اود الفاظو دښه‌والی

اوحسن مراعات ډپرزیاتوڼ ، اوپه‌عربی ژبه کښی له‌پخوازمانو څخه دمعنا په‌نسبت لفظ ته‌زیاته توجه‌شوې‌وه ، لکه‌هغه منظوم اومنثور آثار چه‌نن ورځ دجاهلیت‌و دورې ته‌منسوب‌دی په‌هغو ټولو کښی له‌معنا څخه دلفظ مراعات زیات شوی‌دی . د عربی ژبی دلفظ دښه‌والی‌اود کلام دفنی جنبی له نقطه نظره خورا غوره ادبی آثار په‌دغه دوره کښی پیدا شوی دی . اوددې ژبی دبلاغت‌علوم‌و کی‌اودعربی‌و په‌ادب کښې‌دلفظ خواته‌مخی گرزولو، داسی اغیزه و کړه‌چه‌ددغی‌ژبی دبلاغت په‌پرو‌بخوا آثارو کښی نن‌ورځ په داسی شان‌دبلاغت‌تعریف نه‌شی پیدا کیدای اوممکن نه دی چه دلته به‌پرمعنا باندی د لفظ لوری‌ته ترجیح نه وی ورکړه شوې .

دعربی په‌ادب کښی دلفظ‌حواصوته دغه‌مخه‌اړول، ددې سبب شول چه‌دعربی دبلاغت په‌فن کښی لفظ ډیر لوړ مقام‌ته ور سید اوپه‌دغه‌دوو پیړیو کښی دعربی دبلاغت آثار ټول گرد چاپیر پرالفاظو باندی دوران‌لری او یوالحی عبدالقادر جرجانی دی‌چه له‌دې‌مشهوری عقیدې‌سره مخالفت کړی اوددلائل الا عجاز اواسرار البلاغه‌په‌دوو معروفو کتابو کښی بی‌دمعنا لـه لحاظ څخه دلفظ له‌ارزښت‌څخه بیخی انکار کړی‌دی اودخپلی عقیدې داثبات دپاره منطقی اوفلسفی دلیلونه راوړی خودجرجانی دې مخالفت‌هم دلفظ اهمیت‌نه‌دی کم‌کړی‌اوفارسی‌ژبی دهغی زیاتی رابطی له کبله چه‌په‌پیړیو‌یی ورو، ورو له عربی‌ژبی سره پیدا کړې‌ده نه‌شو کولای چه‌دعربی دادب او بلاغت دآثارو له نفوذ څخه‌ځان وساتـلای شی اوله‌همدغه کبله‌دی چه موږ وینو چه دینځمی هجری‌پیړیـ له‌ابتداځخه چ غزنوي مکتب‌شروع کښی په پارسی شعر کښی دلفظ قدرت اونفوذ زیاتیږی ، او دینځمی پیړیـ له‌اواخروځخه په‌پارسی نثر کښی له‌ساده لاری‌څخه دفنی سبك خواته تحول راځی لفظ برجستگی اوقـدرت پیدا کوی اوداسی کښی چه‌دمعنا له حدودو څخه د باندی مشخص وی اوپه‌پارسی شعر کښی دغزوی اردسا مانی دوو سبـکو دسره جلاوالی اوتوپیر مهم دلیل همدغه نکته ده په سامانی شعر کښی الفاظ ډیر دمعنا‌په‌لحاظ انتخابیږی اودغه‌وجه‌ده چه‌موږ و ینوچه شعر‌ډیر‌ساده اومضمون طبیعی استعاری اوتشبیهات او کنایات ډیرساده‌وی او صفت کول طبیعت‌ته نیژدی وی . اوحال دادی‌چه دغزنویانو په‌دوره کښی داسی‌دی چه‌شاعر په‌ډې‌پسی‌وی چه‌نوی ترکیبونـه را پیدا کـړی او نوی استعاری او نوی تشبیهات اوذوقی ابتکار پیدا کړی، اوپه ستاینو کښی دخپلی خوښی سره سم ستاینه وکړی نه‌داسی لکه‌چه‌وی په پای کښی په الفاظو کښی‌داسی یو رنگ والی اوقدرت پیدا کـړی چه د لوستونکو توجه‌ډیره دلفظ خواته شی اوسو که سو کـه غزنوی سبـك دعراقی سبك‌واته میل کوی اوپه‌شعر کښی دالفاظو قـدرت نیه مشخص اوښه کامل کیږی اودلفظ خواته دو مره مخه کرزول اودعربی‌دبدیع تقلیددډې سبب‌شوی‌دی چه‌عربی لغات په پارسی ژبه کی زیاته رخنه پیدا کړې‌ده او داسی دوره را ورسیده چه دعربی‌ژبی مفرداتو پرپارسی باندی غلبه ومونـد له لحـکه چه پارسی‌ژبی دلفظی تفنن‌دپاره لازمه موادنه درلودل اوچه په‌دې خواکښی عربی‌ژبی زیاته مخه واړوله شوه نوداموادبی له هغې څخه‌واخیستل اوله‌دغه کبله د خراسانی سبك یوه‌مهمه خاصه داده چه‌عربی لغات په‌هغه کښی لږدی اوله‌همدغه کبله دلته‌دری مشخصی اوسره جلالاری اوطرزونه شته‌دی ،

۱- دسامانی سبك پرومبنی دوره ده چه عربی لغات په هغی کښی‌ډیرلږدی پرته‌له‌دینی اواداری اوسیاسی لغاتو څخه‌اوپرته له‌هغو لغاتوچه په‌پارسی ژبه کښی دهغو معناشته اوپرته له هغو لغاتوچه دخپل نظیرپه‌نسبت شه‌ساده‌وی نور لغات بی نه لیدل کیږی .

۲- پرومبنی‌غزنوی سبك‌دی: چه‌دعربی لغاتوله نقطه نظره په‌لږی مسافه کښی پروت‌دی .

۳- دغزنوی دورې وروستنی سبك‌دی: چه تقریبا عـراقی خواته دخراسانی‌سبك دگرزیدلومقدمه‌ده په هغه کښی ډیرزیات عربی لغات داخل شوی‌دی چه‌په‌خپل لحای کښی به‌ځای‌بیان‌وشی .

دوهم: دخراسانی‌سبك دمختصاتو له‌جملی‌څخه بل خصوصیت دوزن ددائری وسعت‌دی‌له‌اسلام‌څخه وړاندی دشعروزن هجائیؤ اوهجائی وزن په‌دغه‌دوره کښی نهؤ کامل داسی کیدای شو چه دبیت‌له‌دوو نمکیوڅخه‌به‌یوې یوبادوه او یادری هجاءله‌بلی‌څخه کم‌درلودل ددغی‌دوری اشعاراوس شته چه‌دهغودهجاء شمیر سره برابر نه‌دی ، اوتراسلام له‌مخه شعر‌به‌معمولا اته‌هجائی اودولس هجائیؤ دهجائی‌اوعروضی اشعارو په منځ کښی داصولو له مخی توپیر دادی چه په هجائی شعر کښی یوالحی دهجاګانو شمیر شرط دی، اوپه‌عروضی شعر کښی هم دهجاګانو شمیرشرط دی اوهم‌دهغو اندازه ، لحکه‌چه هجاګانی‌یی په دووبرخو ویشلی‌دی لوړ ،اولنډ په‌دې‌ډول چه‌هرعروضی شعرهجائی دی ،او کیدای شی‌چه‌هرشعر عروضی نه‌وی، نوله‌دغه کبله‌دی‌چه عروضی وزن دهجائی وزن پوره اومکمل دی ، لحکه چه‌په هغه کښی‌هره‌لنډه هجاء دلنډې‌هجاء‌په‌مقابل کښی‌رالحی،اوهره‌لوړه‌هجاء‌دلوړې‌هجاء په‌مقابل کښی رالحی نوپه‌دغه‌ډول سره کیدای شی چه د عروضی شعربیان‌وکړو اوله‌هغه څخه وزن‌احساس اوهرګـند شی اوحال دادی چه‌هجائی شعر چه‌څوله مو سقی سره یوځای نه‌شی دوزن احساس له‌هغه‌څخه نه کیږی .

په‌ډې لحای کښی دوې‌عقیدی شته‌دی : لحینی‌داسی عقیده لری چه‌عروضی وزن په‌هجائی وزن پسی پیداشوی اومکمل شوی‌دی په‌پارسی ژبه کښی چه په‌هجائی مرحله کښی دشعر وزن کـامل

او پوره شوی، نوطبعاتي دخپل تکامل په لاره کښی د عروضی بحرخواته مخه اړوله او کښږی چه‌دعربی عروض به‌ددغی اوښتنی (تحول) په‌چابکتیا کښی اغیزه لرله .

بله‌ډله‌داسی عقیده‌لری چه‌په‌پارسی شعر کښی عروضی وزن دعربی تقلیددی خوهر ډول چه‌وی دسامانی دوری د هجائی اوعروضی اشعارو په منځ کښی داسی اشعار شته‌چه د هجائی اوعروضی نظم داوښتنی اوتحول نماینده گڼل کښږی، اوداهم څرگنده ده‌چه په‌پارسی ژبه کښی دوزن له‌حیثه تدریجی تحول کړی‌دی نوله‌دغه کبله دړومبیر ډلی دعقیدی مقدمی غوره ښکاره کښږی . وړاندی له دې چه په عروضی ابحارو باندی داشعارو مقایسه اوپرتله شروع کښږی ،داسی قطعات وو چه‌په مختلفو کتابو کښی لکه‌په‌تاریخ‌طبری کښی ضبط دی اودا قطعات دوزن له‌نقطه‌نظره دعروضی اوهجائی اشعارو ترمنځ یو فاصل حد کښی پراته‌دی اوپه‌سامانی سبك کښی داسی هم‌راځی چه‌کله‌کله دیوه‌بیت‌دوې نیمکیر (مصرع)په‌یوه‌وزن نه‌وی، لکه درودکی دالاندینی شعر :

می آرد شرف مر دمی‌پدید وآزاده‌نژاد ازدرهم خرید

چه اوله نیمکیر یی له‌دوهمی سره په‌وزن کښی توپیرلری. اودسامانی دوری څینی داسی اشعار شته‌چه کنن‌ورځ هغه‌مشدد تلفظ نکړو نوموزون نه راځی .

اودخراسانی سبك داوازونو دائره ډېره پراخه وه ، اوپه دغه سبك‌کښی داسی اوزان پیدا کښږی چه‌په عراقی سبك کښی له‌منځه تللی دی، اوداسی څرگندښږی چه په دغه دوره کښی شعر اوموسیقی لانه‌وو سره جلاشوی، او دشاعرا نو د احوالو په‌شرح اوبیان کښی به ولولو، چه‌نبه اشعار به‌بی‌ویل اوچنگ به‌یی ورسره واهه اویابه‌ئي رودگی چنگ وراخیست اوغږاوه به یی .

شاعرانو به خپل اشعار یخپله ویل، اویابه راوی ویل . او دسامانی دوری دځینو شاعرانو در اویانو، نومان اوس شته، لکه له‌رودکی څخه (مج یامنځ) اونور داسی په دغه مناسبت په دغه سبك کښی په‌درندو او ناوړو بحرو کښی شعر رواج ؤ، خو دعراقی سبك له‌دوری څخه ورو سته به شاعرانو داسی اوزان ویل چه دبیان په‌وخت کښی به‌یی هم پوره آهنگ درلود .

دریم : اوزدی اومحکمی او کم‌غزلی‌قصیدی، چه‌په‌وروستنیو زمانو کښی شایعی اورواج شوی ، داډول وی چه دخراسانی سبك اشعار ډېر دقصائدو په‌ډول وو، اوپه عراقی سبك کښی ډېر دغزلو به‌ډول وو، اوطبیعی ده چه‌غزل هیڅ وخت نه شی کولای چه‌سره دموضوع له لطافته، ثقیل اوزان راوړی، او کم موندل کښږی چه کوم شاعر به‌په غزل‌ویلو کښی دوزن له حیثه تفنن کړی وی .

څلورم : دسامانی سبك بله نخبه دقافیې سادگی ده ، به سامانی سبك کښی په‌عمومی ډول قافیی‌په‌الف اونون او نورو داډول توریو سره خاتمه مومی، اولکه دنورو وروستنیو دورو په‌شان هیڅکله ددغی دوری به‌قافیه کښی تفنن نه‌لیدل کښږی . اوپه‌سامانی سبك کښی ردیف نشته، او که‌وی هغه‌هم اوسنی ساده ردیفونه دی . اودغزنوی سبك له‌اولو څخه په فارسی شعر کښی ورو، ورو ردیفونه مشکل کښږی اوصنعتی قوافی لا ر پیکښی پیدا کوی . اوپه دغه تفنن پسی په عراقی سبك کښی داسمی ردیفو اودجملی ردیفو به‌ډول لیدل کښږی، چه یودشعری تفنن له ارکانو څخه همدغه ردیفونه اودغه قوافی دی .

پنځم: دخراسانی سبك له‌مختصاتو څخه بل‌شعری صنائعوته نه‌توجه‌ده، هغه صنائع چه وروسته په‌عراقی سبك کښی ډېره توجه ورته شوې ده په‌خراسانی سبك کښی په شعر کښی لفظ چندان نه‌وی څرگند، اودمعنا له حدودو څخه دباندی ارزښت نلری، لکه‌چه‌په خراسانی نثر کښی همدغه کیفیت لیدل کښږی اوله همدغه جهته پرته له‌ډېرلږو ځایو څخه صنائعوته مخه‌نه‌ده گرزول شوې .

شپږم : دخراسانی سبك له مختصاتو څخه بل دمعناسادگي ده، په‌خراسانی سبك کښی توصیفات ډېر ساده دی ، شاعر چه کوم شی لیدلی دی په همهغه ډول‌یی چه‌دی توصیف کړی‌دی . خلافی له عراقی سبك څخه چه‌شاعر خپل موصوف لکه چه زړه یی غواړی هغسی یی توصیف کوی . په خراسانی سبك کښی دموصوف صفت غالبا سره دهغه له‌ټولو اجزاوو کښږی ، په‌دې ډول چه‌شاعر لکه په‌عراقی سبك اودهغه په‌اواخرو کښی داسی نه‌کوی، چه دموصوف دیوې‌برخې صفت‌و کوی اونور پرېږدی . لکه چه‌که په خراسانی سبك کښی دغره او دېرلی توصیف ولیدل شی نوپوره اوکامل به‌وی . او که په عراقی سبك کښی وی نو که دشعر عنوان غر، وی، ممکن‌دی چه‌دغره د جګوالی وصف‌به‌یی کړی‌وی، او که عنوان بن یا پسرلی وی ، نوپه شعر کښی به‌یی دیوه له ګلانو ډك بن او یادځو ګلانو توصیف به‌یی کړی‌وی . اوپه همدغه شان په خراسانی سبك کښی په توصیف کښی مبالغه ډېره کمه وی، حال داچه په عراقی سبك کښی دتوصیف بنسټ پرمبالغه ایښی شوی دی . په خراسانی سبك کښی ډېرلږ لیدل کښږی چه‌شاعر به‌داسی شیان سره ګډ کړی‌وی، چه‌په خارج کښی دهغو یوله بل‌سره پتلیز او ګډون ممکن نه‌وی . اوحال دادی چه‌په عراقی سبك کښی د شاعر ټوله توجه‌دې خواته وی چه‌په‌شعر کښی داسی شیان‌سره یوځای کړی چه‌په خارج کښی دهغو سره یوځای کېده ممکن‌نه‌وی . اوپه سامانی سبك کښی دشعر ژبه‌ډېره طبیعی‌وی اوپه‌دغه‌سبك

کښی‌داسی تشبیهات راوړی چه‌په‌ژبه کښی معمول اورواج وی . اوپه شعر کښی کنایات او استعاری ډېر کمی راځی ، حال‌داچه په عراقی سبك کښی شاعر کوشش کوی چه پخپله ټول تشبیهات را پیدا کړی . اوچه په خراسانی سبك کښی تشبیه ډېره ساده وی، په‌عراقی سبك کښی زیاته تو جه تشبیه ته کښی، یعنی‌داسی تشبیهات چه‌په ظاهر کښی تشبیه نه‌وی اوپه معنا کښی تشبیه وی. په‌همدغه ډول دخراسانی سبك په اواخرو او د عراقی سبك په اولو وختو کښی دتمثیل‌خواته توجه لیدله کېږی، په دې صورت کښی شاعر یوحال له‌بل‌حال سره تشبیه کوی اوبیا نوی یی ، لکه دسهار په‌وخت کی‌دغره له‌شا څخه دلمردراختلو حال، دداسی مړژواندې ډیوې له‌حال سره تمثیل کو ی ، چه لږلږ تیل ور زیاتیږی، حال‌داچه په خراسانی سبك کښی د مرکبو تشبیهاتو استثنا ایدله کېږی یعنی داسی تشبیهات چه اجزاء یی یو له بله سره دتشبیه وړوی، او په‌تمثیل کښی اجزاء یوله‌بل‌سره دتشبیه وړنه‌وی . دخراسانی سبك‌په‌وروستنیو و ختو او دغزنوی سبك په‌اولو وختو کښی شاعر دمعنا دبیا نولو دپاره داسی تشبیهات پیدا کوی چه‌په خارج کښی دهغو و جود ممکن نه دی، بلکه یوازې په ذهن کښی دهغو تصور کېدای شی .

اوم : دخراسانی له‌خواصو څخه بل‌دادی : چه په شعر کښی علمی معناګانوته توجه نه‌وی ، نوله دغه‌جهته په‌پارسی اشعارو کښی دری متمایزی اویوه له بلی جلا دوری لیدلی کېږی :

۱ ـ هغه دوره ده : چه‌په‌شعر کښی علمی‌معناګانی هیڅ‌لاره نه‌لری، اودادخراسانی سبك اوله‌دوره یعنی‌دسامانی‌سبك‌دوره ده.

۲ ـ هغه دوره ده : چه شاعر په‌غیر مستقیم ډول سره خپل شعر دعلمی اطلاعاتو تراغیزې لاندی راولی، اودا دخرا سانی سبك دوهمه دوره یعنی غزنوی سبك‌دی . لکه په‌دغه دوره کښی عنصر ی داسی یو شاعردی‌چه کو شش کوی چه پخپلو اشعا رو کښی شاعرانه مبالغه او اغراق‌سره له‌منطقی او فلسفی استدلاتو ثابت کړی، که دعنصری شعر دفرخی له‌شعرسره چه‌دده‌معاصرو مقایسه شی نوهر ګوند به شی‌چه دعنصری په‌شعر کښی دستاینو په‌برخه کښی له‌فرخی څخه‌مبالغه اواغراق زیات‌دی، او که‌زیات نه‌وی نو کم خو نه دی . او سره له‌دې تولو دفرخی په‌شعر کښی مبالغه زیاته ښکاره کېږی ، ځکه چه دعنصری په‌اشعارو کښی استدلالونه شته اوهر ګوند ښې چه‌له فلسفی او منطقی دماغ څخه راوتلی دی، او چه موږ پوهیږو چه‌په علم منطق اوفلسفه کښی استاذ و ، نوشك نشته چه پخپلو اشعارو کښی به‌په‌غیر مستقیم ډول سره دخپلو معلوماتو تراغیزی لاندی راغلی وی، اوداچه موږ وایو چه‌په غیر مستقیم سره،له‌دې جهته چه دعنصری په اشعارو کښی لکه چه دعراقی سبك د شاعرانو خوی دی، په فلسفی او منطقی مضامینو هیڅ تصریح نه ده شوې .

۳ ـ هغه دوره ده چه په‌ښکاره ډول شاعر دخپلو معلوماتو تر تاثیر لاندی راغلی‌وی، داهغه دعراقی سبك دوره ده . ددغه سبك دشاعرانو اشعار ډېر داسی ډول وی چه که لوستونکی علمی معلومات نه‌لری، نو‌په‌ډېرو معناګانو او مضامینو باندی به‌نه پوهیږی، لکه چه دخاقانی په اشعارو باندی د یو هېدلو دپاره لازم دی چه دنجومو اوهندسی، ریاضی په‌علومو اوتاریخ کښی معلومات ولری .

اتم : دسامانی سبك بله خاصه‌اونښه داده، چه‌اوزده وصفی ترکیبونه‌پکښی راځی . اوپه عراقی سبك کښی او زده وصفی ترکیبونه زیات لیدل کېږی . لکه چه خاقانی په‌دې لار کښی ډېره مبالغه کړې ده . اولکه چه دګرا نو او سختو ترکیبو جوړول په‌عراقی سبك کښی لیدل کېږی، پـه خراسانی سبك کښی معمول نه‌وو ، په‌خراسانی سبك کښی دمعناګانو پله‌پسی والی (تسلسل) اودهغو ترتیب او پتلیز ډېر په نظر کښی نیول کېږی، په‌دې ډول چه‌شاعر دقصیدې اوشروع څخه فکر کوی اودخیل مضمون تعقیب کوی اوله یو پې معنا څخه بلی‌بی‌مناسبه معناته نه‌ځی. اوډېر دیو متوالی احساس نماینده وی . او ددې په‌عکس دغزلی هرفرد ځانته مستقله معنا لری اوښایی چه‌دبیتو دمعناګانو ترمنځ هیڅ ډول تناسب نه‌وی ،

نهم : دالفاظو استحکام اووضاحت، چه‌په مقدمه کښی دهغه بیان وشو .

دسامانی دوری ځینی خاصی :

۱ ـ ډ (در) دکلمی برځای د (اندر) د کلمی استعمـال، چه دسامانی دوری دیخوانی نثر په‌کتابو او آ ثارو اوټولو ځایو کښی د (اندر) لفظ استعمال شوی‌دی، او د(در) لفظ چه داندر مخففـدی دغزنویانو له‌زمانی څخه‌دهغه استعمال شروع‌شوی‌دی اودامخفف لفظ زیات دشاعرانو په اشعارو کښی استعمال شوی دی، وروسته بیاپه مراسلاتو کښی راغلی‌دی، وروسته بیاپه نثر کښی‌استعمال شوی‌دی، او دپنځمی‌پیړۍ ترمنځنیو وختو پوری د (در) کلمه په نثر کښی نه لیدله کېږی . اودالفظ ډېر ځله دطرف دقید دپاره استعمالېږی ، اوکله‌کله دهغه به‌خلاف راځی، لکه چه دتاکید دپاره له هغه اسم څخه وروسته چه ظرفی(دیا) ته مضاف وی استعمالېږی ، لکه بجهان (اند) وبدریا (در) .

ببزم‌اندرون آفتاب وفاست  برزم اندرون‌تیزچنگ‌اژدهاست

اودتاریخ طبری اوتاریخ سیستان په‌ترجمه کښی د(بر) او (به) به‌معنا هم استعمال شوی دی .

۲ ـ د تاکید(بی ) دټولو افعالو په سر کښی‌راځی، خوپرته له هغوځایو څخه چه ویونکی د تاکید قصه نه‌لری، او دابـی، چه‌په غلط سره‌په‌زائده اویادزینت‌په‌بی مشهوره شوې‌ده،پرته له اسم فا عل او اسم مصدر څخه په‌نورو ټولو صیغو کښی دتاکید

دپاره رالحی، اوپه نهی اونفی موکده کښی هم دنفی له نـو ن اودنهی لهمیم‌څخه پرومبی رالحی، لکه (بنکندو بنماند وبمکن) اونور دا سی په سامانی دوره کښی ډیره نادره د غه بی حذف کیده . او که دابی پرا سماؤ داخله شی هغې‌ته اضافی بی وایی اوپه اصلی پهلوی کښی دا دوې بی‌گـانی یوله بله تو پیر سره لری . اومحققینو پوهانو دابی په (۳۱) معنا گـانو بللې ده، خوڅینی معناگـانی‌یی دنورو معناگـانو تکراردی، لکه د معیت تخصیص، اتصاف، سببیت تعدیت، تحزیر، لیاقت، مقابلی او قسم بی اونوری .

۳ - د (بر) کلمه هم دا ستعلاد معنا دپاره د کلمو په اول کښی‌رالحی،اوکله‌کله دفعل معناته‌تغیرورکوی، لکه (برنشستن) یعنی سپرېدل، او (برنشاندن) یعنی سوارکردن . او ورو سته له هغو اسماؤ څخه رالحی چه‌په سر کښی یی داضافت بـی وی، لکه (بجهان بر) اونورو داسی .

٤ - د (فرو - اوفرا) دکلمو استعمال، چه اوله‌بی د (فرود) مخففه‌ده اودوهمه یی‌د(فراز) مخففه‌ده، په‌څوانو آثارو کښی ددغو دوو ډېرترکیبونه شته چه‌دافعالو په اول کښی راغلی دی، اواوس رواج نه لـری دفرو کلمه کلـه د تـاکید او کله د لـوی (جـهـت) دتـا کلـو د پـا ر ه را غـلـې ده لکه : بانگ جراد بشنو درباغ نیمروز

همچون سبوی نوکه به‌آتش فروزند

فرو رفت و بر رفت ر و ز نبر د

به مـاهی نـا خون و بر مـاه گـرد

دفراز له‌کلمی څخه‌هم ترکیبونه‌شته خود (فرا) ډېر نه‌دی لکه (فرازآمد- فراز رفت) .فراز نوری معنا گانی هم‌لری‌لکه فراز دښته په‌معنا اوفراز د نشیب مقابل او فراز کردن و باز کردن په‌معنا .

۵- کوم وخت چه‌به‌یې غو ښتل چه استمراری (یاء) له‌فعل سره راوړی نود (می) اویا(همی) کلمه به‌یې دفعل به‌اول کښی راوړه اوله هغه‌څخه‌به‌یی داستمرار معنا اخیسته ، اوله فعل‌څخه به‌جلا لیکله‌کیده ،لکه (می روم) و(می کنم) او کله‌کله له فعل څخه‌رروسته راتله لکه :

بوی جوی مو لیان آید همی ٭ یاد یار مهربان آید همی

کله‌کله د(می) اوفعل یوه یاڅو کلمی فاصله راځی‌لکه :

کنون خوردباید می‌خوشگوار که‌می بوی مشك آیدازجوی‌بیار

٦- په اوسنی رسم‌الخط کښی چه‌دنهی او ددعا (میم) دهغه مصدر په‌ابتدا کښی چه په‌سر کښی یی‌الف وی ، راشی، نو هغه الف په یا بد لیزی ، لکه(میفگن - او میازار) چه په څوانی رسم‌الخط کښی به‌تغیر نه‌پکښی راتو، لکه(مافگن) او (مازار) اودا ډېر په رسم الخط پوری اړه لری .

۷- ددې دوری په شعر کښی د(باز) کلمه، بیا او تکرار دقید په‌معنارالحی، اودایضاح په‌معنا هم‌رالحی ،لکه (بازآوردن. بازنمودن) اونور داسی ، او دجملی په‌سر کښی دبازکلمه د(پس اوچون) په معنا رالحی ، اوکله‌کله دعطف دواو پرځای بـاندی استعمالیږی ، او په څوانی رسم‌الخط کښی به د باز کلمه په ځینو ځایو کښی استعمالیده او اوس بیخی پر ښنوده شوې ده ، چه د بازکلمه به دیو اسم په سر کښی را غلی او د عود او بیا راگرزېدو معنا به‌بی ورکوله ، لکه (عمرو لیث باز خراسان شده) یعنی بیا خراسان ته ولاړ . او باز د معیت د بی په معنا هم‌راغلې‌ده ، لکه (بازآنکه )یعنی (با آنکه) . او کله کله په دغه معنا له‌اسما اشاراتو اوضمائرو سره یوځای کیږی ، لکه (بازآن - او باز لین) اونور . اوباز دمودې دقید او بیان په معنا راغلې‌ده ،لکه(ازدیرباز) اونور .

۸- په سامانی سبك کښی استمراری او انشائی او دتمنی اوترجی یاگانی دافعالو په‌اخیر کښی راتلی، او دښځمی‌پیړی په‌اخیرووختو کښی د استمرار یاگانی د(همی - اومی) په‌کلمو بدلیدی .

په٦ او۷ پیړی کښی داستمرار نښی (علامی) ډېر ځله دهمی او- می په‌صورت دافعالو په‌سر کښی راتلی . اوله اومی پیړی څخه وروسته په ډېرو ځایو کښی استمراری یا نه استعمالیده .

۹- د(تا) کلمه دزمانی اومکان دبیان له‌اداتو څخه وه، او د(نیز) کلمه په څوا رسم الخط کښی د دیگر په‌معناوه ، لکه چه مختاری غز نوی وایی :

دی‌باز درفکرآنم که بـاد را

تاتاب‌سنبل سمن آرای توچگار

گرنیز گرد زلف تو گردد بسوزمش

از وصف آتش سر شمشیر شهر یـار

او د(بیش) کلمه به‌یی هم‌د دیگر په معنا استعمالوله .

۱۰- د(اگر)کلمه د (یا) په‌معناراغلی‌ده ،لکه‌چه‌انوری‌وایی:

تنگست بر تو سـگنی‌گیی زکبریا

درجنب کبریای‌توخود این چه‌مسکن‌است

وین‌طرفه ترکه‌همت بر اعدات نیزتنگ

پس‌چاه یوسف است اگر چاه بشرفست

۱۱- د (که) پر ځای باندی د (کجا) دکلمی استعمال په شعر اوپه‌نثر کښی هم ددغی له خواصوڅخه ګڼل کیږی .لکه:

کجا شیرمر دان جنگ‌آورند فرو زندهٔ لشکرو کشور اند

۱۲- ددغې په‌شعر اوپه نثر کښی د «ایدون» کلمه د«چنین» په‌معنا او د(ایدر) کلمه د (اینجا) په معنا رواج او راتللی، او څوا دچنین او داینجا کلمی ډېری کمی استعمالیدی . اواوس په‌غلط متأخرین د ایدون‌کلمه داکنون په معنا استعمالوی .

۱۳- او د دغی له مختصا تو څخه دی چه د (سوی) کلمه د(برای) په‌معنا راتله لکه‌چه فردوسی وایی:

شما سو ی ر ستم بجنـگ آ مد ید
خرا مان بجنـگ نهنـگ آ مد ید
یا گیسوی من‌بسوی‌من بدوری منست
گر بچشم تو همی تـا فته مـا ر آ ید

۱٤- د (افسوس) کلمه د (استهزا - او مفت) په معنا ددې دوری له مصطلحاتو څخه‌دی او داومی پیړۍ په‌آثارو کښی‌هم دغه دوې معنا گانی پیدا کېږی ،لکه‌چه دشوخ کلمه د چرك په معنا اومرد ، دملازم په‌معنا اوپادشاهی دمملکت په‌معنا او سبك دتند په معنا وی .

۱۵- ددغی‌دورې په‌نظم اونثر کښی هم دعربی الفونه اوهم دفارسی دخاصو اسماؤ الفونه دعربی امالې په‌شکل به‌یې لیکل کیدل ، لکه (سلاح اورکاب) چه‌سلیح اورکیب به یی لیکل او داسی تلفظ به‌یی‌کاوه . اولکه :

بحجاب‌اندرون شود خورشید چون‌تو گیری ازان‌دولاله‌حجیب

۱٦- ددې دوری په شعر او په نثر کښی د پارسی افعالو ترکیبونه په‌عربی مصدرو استعمال او راغلی‌دی ، خو ورو سته له‌منځه تللی‌دی ، لکه : حرب کردن، نظر کردن او نور داسی .

۱۷- دسامانی دوری دنظم اونثر له‌خواصو څخه‌بل دادی : چه‌په عربی لغاتو کښی به‌یی تصرف کاوه چه عربی جمع به‌یی دپارسی دجمع په‌علامو جمع کولی ،لکه معجزاتها، عجائبها او منازلها .اولکه‌متقدمین اومتأخرین ،او په‌همدغه‌شان په‌دغه‌دوره کښی‌داسی کلمی شته چه له‌عربی‌څخه اخذشوی دی او هغه خپل عربی شکل‌یی نه‌دی‌ساتلی، لکه دطلایع کلمه چه‌دطلایه په شکل راغلې ده .

۱۸- د(مر) حرف به‌له مفعول څخه له‌مخه‌زیات استعمالیده اولکه چه‌څینو متأخرینو داسی‌خیال کړی‌دی چه‌هغه زائد دی، بلکه تاکیدی معنالری .

۱۹- ددغه‌دوری له‌خواصوڅخه بل دادی چه د«ودیگـر» او«سدیگر» الفاظ د(دوم) او(سوم) پرځای باندی استعمالیدو

۲۰ - د(صعب)سخت عظیم‌اونوری داډول کلمی‌د (بسیار اوزیاد) پرځای‌باندی استعمالیدی‌چه نن ورځ دوصفی تاکید دقید‌په‌عنوان اویادافراطی صفت علامه استعمالیږی .

۲۱- په‌پخواوختو کښی د«را» توری ډېرمشوش وُ یعنی به‌پخوانو آثارو کښی دهغه‌دپاره یوه ښکاره او مشخصه قاعده نه‌پیدا کېږی، کله‌د(برای) په‌عوض داختصاصی په‌ډول استعمال شوی‌دی، او کله‌دزمانی تاکیددپاره له مفعول بالواسطه څخه وروسته استعمال شوی‌دی اوکله‌کله‌بی‌له‌کوم مقصود څخه زائد استعمال شوی‌دی .

۲۲- دپخوانی‌نظم اونثر له‌ښکاره خواصو څخه بل دادی چه‌د(آن) او(این) دوې کلمی‌به‌یی سربیره پـردې چه دلیری اونیزدی اشارو اودضمیراشاره اومالـکیت دپاره به‌یی دتعریف اوعهدذهنی یا وصفی اوذکری په ځایو کښی استعمالولی ، نور ترکیبونه به‌یی هم‌له‌هغوڅخه جوړول لـکه (آنك واینـك ) به سکون‌کاف او(آنست اواینست) اولکه اینست‌خوش بازرگانی آنست بالامشتری .

۲۳- په‌سامانی سبك کښی دغائب‌مفرد ضمیر هرځای د(او) لفظ دی، عام‌له‌دې‌چه دذوی العقولو دپاره اوکـه د غیر ذوی العقولودپاره استعمال شوی‌دی، اوهیڅو خت به یی (آن) ضمیر اشاره د«او» پرځای نه‌استعمالاوه .

۲٤- په‌پخوانی‌نظم اونثر کښی به‌یـی مفعولی او اضافـی «ش» کله‌کله‌دفاعل پرځای استعمالاوه

لـکه : گرفتش قش وبال اسپ سیاه
زخون لعـل شـد خاك آ ورد گـاه

۲۵- ددغی دوری په‌نظم اونثر کښی ضمائر مرتبه قاعـده نلری اول داچه برجمع غائب‌باندی معطوف فعـل یی مفـرد راوړی‌دی ، که‌هرځومره دغه کیفیت ترڅومی پیـړۍ پوری په‌پارسی ژبه کښی‌هم لیدل کېږی ، خوډېـر والی اوشیوع یی به‌څلرمه اوپنځمه هجری پیړۍ کښی زیات وُ دوهم پر متکلم واحد باندی له‌معطوف فعل‌څخه دضمیر حذف کیدل ، لـکه برخواندم وبراه آورد دریم له‌متکلم مع‌الغیرڅخه دضمیر حذف کیدل، لـکه نرفتی دنرفتمی پرځای . څلورم : د جمـع ضمیر داحترام دپاره لـکه‌اگرشما کشته شوید پنځم‌دمردم دلفظ‌افراد چه‌نن‌ورځ موږ هغه‌جمع بولو .

۲٦- له اسماؤ څخه به‌یی په‌قیاس مصـدرنه جوړاوه لـکه له‌جنگ اوفهم‌څخه جنگیدن اوفهمیدن نه‌جوړول، بلکه ترکیبی مصدربه‌یی لـکه‌جنگ کردن اوفهم کردن استعمالول

۲۷- په دغه دوره کښی داسی‌لغات وو ، چه نن ورځ بیخی ترك اوپرېښودل شوی‌دی لـکه‌چه‌ددې دوری په شعر او نثـر کښی دلون‌کلمه درنگ به‌معنا زیاته استعمالیږی اویا برگشت دحاشا به‌معنا اویافرمان یافتن دمردن‌به‌معنا .

۲۸- ددې‌دوری له‌لفظی مختصاتو څخه بل‌دادی چه‌داضافت به‌مقام‌کښی به‌یی له‌اسمی ضمائروڅخه وړاندی سا کـن حرف راوړل، لـکه‌پدرم به‌دالاندینی شعر کښی:

بخور شید روشـن روان از یـر
بجان پـدرم آن گـرانمـایه شیر

اوپه‌همدغه شان سره به‌یی په‌دغه دوره کـښی ددوو توریو پرځای‌باندی مشددتوری استعما لول

لکه په‌دالاندی بیتو کښی :

ملکاجشن مهرگان آمد جشن‌شاهان و خسروان آمد
جـز بجای ملحم و دیبا بدل باغ و بستان آمـد

۲۹- داشعارو اومصراعو په‌ابتدا کښی دعاطفه (و) استعمال دسامانی‌سبك له‌خواصوڅخه‌دی ، چه په وروستنیو دورو کښی دغه استعمال پرېښودل شوی‌دی ، اودشاهنامی په اشعارو کښی دااستعمال مکررلیدل کیږی :

چه بایـد مـرا جنگ کـا بلستان
ویا جـنگ ایـران و زابـلستان
حرام دارم بادیگران سخن گفتن
چون‌حدیث تو گویم‌سخن دراز کنم

۳۰- په‌دغه دوره کښی د(نمودن) فعل دپښودلو نشانادن اوارا(ته کردن) په‌معنا مستعمل‌شوی‌دی، اونگاه‌داشتن دمواظبت اومراقبت په‌معنا استعمال شوی دی .

۳۱- مستقبل محقق الوقوع فعل به یی د ماضی په صـیغه استعمالاوه چه‌دفعل وقوع محققه اویقینی کړی،لـکه دفردوسی په‌دالاندینی شعر کښی چه‌شد د شود پرځای استعمال شوی‌دی :

چنیـن گـفت رستـم بر هـام شیر
کـه ترسم که رخشم شدازکارسیر

اویالـکه چه‌مولوی و یلی دی :

مـدتی ایـن مثنوی تا خیر شـد
مهلتی باید تـا خون شـیر شد

اویالـکه چه‌خواجه وایی :

فکر بلبل همه آنست که گـل شد یارش
گـل‌دراندیشهٔ که‌چون عشوه کند درکارش

دسامانیانو په زمانهٔ کښی نثر: پوهانو دفارسی ژبی نثر پرشپـږو دورو، ویشلی دی : او لـه دوره یاسا مانـی دوره دپارسـی ژبـی دډبـر یخوانـی نـثـر دشـروع دوره ده اودپنځمی پیړی تر منځنیو وختو پوری یی‌دوام‌درلود ، اودهغه پشپړه نخښه دبلعمی تاریـخ اوحدودالعالم دی .

دوهمه دوره : یاغزنوی او اوله سلجوقی دوره چه‌دپنځمی پیړی له‌نیمایی څخه شروع کـیږی اودشپږمی به نیمایی کښی ختم کیږی ، اونخښه‌یی دبیهقی تاریـخ اوکلیله دمنه ده .

دریمه دوره : یادوهمه سلجوقی اودخوارزم شاهانو دوره فنی نثر دشپږمی پیړی له نیمایی څخه شروع شوی دی او د اومی پیړی تر پایه پوری رسیږی ، اودهغه نخښه‌مقامات‌حمیدی اومرزبان نامه‌دی .

څلرمه دوره : یادعراقی سبك دوره ، او صنعتی نثرداومی پیړی له اخیرو وختو څخه شروع کـیږی او د دیار لسمی پیړی تر اخیرو وختو پوری دوام کوی . او نمونه یی جهـان کشای جوینی اوتاریـخ اوصاف اولباب‌الالباب‌اوداسی‌نوردی .

پنځمه دوره : یا دادبی دوری د بیرته راګرزیدلو دوره ، چه له‌دیارلسمی پیړی څخه‌شروع شوې اوترعورلسمی پیړی پوری دوام کوی ، اونخښه یی منشآت‌قائم‌مقام‌اونشاط‌اوموٴلفات هدایت اونامه دانشوران دی .

شپږمه دوره : یادساده لیکلو دوره : چه له‌عور لسمی پیړی څخه شروع کیږی اوترنن ورځی پوری دوام لری . دسامانی زمانی له نثر څخه ډېر آثار لاس ته نه‌دی راغلی ، بلکه څوکـتابونه‌دی چه ځانته ځانته په تفصیل یادشول، اوښایی‌چه نورهم نه‌دی ، له‌دې کـبله چه‌په‌دغه زمانه کښی لاپوهانوخیل آثار په عربی لیکل اوهغه کـتابونه چه یاتی‌دی یاتار یـخـی یاعلمي دی ،په کلی ډول دسامانی دوری دنثردسبك‌په‌باب کښی یعنی دځلورمی‌پیړی هغه مختصات بایدیادکړی چه ددغی دوری دنظم دسبك په مورد کښی مو بیان کړل ، دسامانی عصر نثر ډېر ساده اوروان‌دی اوله هرډول لفظی تـکلف‌څخه‌خالی‌دی . اوپه‌دغه دوره کښی په‌پارسی نثر کښی‌دعربی ژبی دجمله‌بندی تاثیر دهغی له‌لغوی تاثیر څخه زیات دی ، لـکه که موږوغواړو چه دتاریـخ طبری دترجمی دکـتاب اودطبری دتفسیر دترجمی عبارتونه پرعربی واړوو ، نویوالحی دلغاتـو ایړول او تغیر به کـفایت وکړی ، یعنی لیکونـکی په جمله کښی دکـلموڅای په هم‌هغه عربی شکل ساتلی دی ، اوهره جمله له فعل اوفـاعل اومفعول څخه جوړښتی ، اوکه جمله نور اجزاء ولری. نوهغه له‌فعل څخه وروسته راوړل کـیږی . او له همدغه جهة موږ وینو چه چه په‌داسی آثارو کښی هره جمله ورو ستنی ملحقات لری چه هغه داصلی جمله په اجزاؤ پوری مربوط قیود اوصفات وی . اوپرته له‌دې جملو څخه په‌داډول کـتابو کښی تمیز ، او مفعول مطلق اونور داسی دجمله اجزاء د عربی په‌شکـل ډ پر راغلی دی ، چه دعربی ژبی دجمله بندی د سبك د پوره تقلید نخښه‌ده . اوپه همدغه شان باید یادولرو چه په دغه دوره کښی دجملو په‌ترتیب دمنطقی نظم او ترتیب مراعات چندان نه‌کیده چه ددغی‌دوری په‌آثارو کښی په ډیرو ځایو کـښی دمشوشو ترکـیبو نښانی لیدلی کـیږی .

ددغی دوری به آثارو کښی عربی لغات ډېر کم‌دی ، پرته دحمد اونعت له‌مقام څخه‌چه‌دپیغمبر اوداماماتو دنومانو په‌تعقیب نعتی جملی را وړلی کیږی . او ددغی دوری په آثارو کښی اقتباس اودرج رواج نه درلود . دقرآن کریم آیاتونه یواځی په‌داسی ځایو کښی راوړل کیدل چه طبیعی‌زښتی اواصلی معنا به دهغو اقتضا درلوده اوله نثر څخه به‌یی‌پوره جلاوالی درلود (نه دفنی اوزینتی رکن په عنوان ) . په نثر کښی به دتمثیل او استشهاد به عنوان شعرنه را وړل کیده، اوددغی دوری په نثر

افغانستان.com

کښی دبدیعی صنائعو کومه نبه نشته ، اودجملو لنډوالی ددغی دوری له مختصا تو څخه دی اود پهلوی آثارو په ډول جملی لنډی او کوتاهی .په داسی اندازه چه که کومه کلمه لهغی څخه حذف شی نودجملی دخراب والی اودمطلب دور کوالی سبب کیږی ، اوپه عطفی جملو کښی به یوفعل مکرر راوړ کیدو ، اودلفظ اوفعل تکرار اوحتی دیوې جملی تکرار عیب نه بلل کیدو ، اودغه طرز پوره دپهلوی اغیزه ده . اوددغی دوری بله ښکاره خاصه داوه چه دپارسی ژبی زاړه اوفصیح لغات به یی استعمالول ، لکه چه په تفصیل سره دهغو بیان تیرشو . داوو، د ساما نیانو دزمانی اودخراسانی معروف سبك دنظمی اونثری آثارو خواص.

غزنویان یادناصرلخوڅات : (۳۵۱-۵۸۲ه)(۹۶۲-۱۱۸۶م)

الپتگین دسا مانیانو له امراؤ څخه یوتن ؤ ، چه په ۳۴۹ کښی دخراسان سپه سالار شو، او دده له مړینی څخه وروسته د غزنی او تخارستان او پرې برخې ماوراء النهر حکومت دده زوی ابواسحق ته وسپارلو له هغه وروسته بیادده حکومت دده یو بانفوذه ترك نژاد سبکتگین نومی نوکر ته چه دده سپه سالار ؤ ورسید، سبکتگین ددغه امیریو عسکری لوړ منصبدارؤ، له هغه له مړینی څخه وروسته عسکرو دغه سبکتگین چه یوپوه منصبدار اودښو خویونو خاوندؤ ،باچا کړ (۳۶۷ه) سبکتگین د الپتگین نوکر او زوم بی هم ؤ . او کله چه دفائق او ابو علی سیمجور فتنه دسبکتگین او محمود په واسطه لری شوه (۳۸۴) نو سامانی نوح بن منصور سبکتگین ته یی د ناصرالدین الدین ولدوله لقب ورکړ ، اودهغه زوی محمود ته یی دسیف الدوله لقب ورکړ، او دخراسان حکومت یی هم هغه ته ورکړ او محمود دخراسان حکمران مقررشو .اوورځ په ورځ دهغو قوت اوقدرت زیاتیدو ، په (۳۸۷ه) کښی چه سبکتگین وفات شو دده زوی اسمیل چه چه دالپتگین له لورڅخه ؤ دهغه پرڅای پر تخت کښیناست. اومحمود چه موریی دزابل دیو حکمران لوروه ، اومشره هم وه نویی ځان مستحق وباله اوویی غوښتل چه اول باید دی د پلار پرڅای باچا شی، خواسمعیل ونه منله، او د دواړو په منځ کښی جګړه پیښه شوه، اومحمود بریالی شو ، اوغزنی یی ونیو ،اوکله چه دایلك خانیانو له خوا د ساما نیانو حکومت ویجاړ شو ، نو د غزنی حکومت بشپړ مستقل شو ،اوپه (۳۹۰ه) کښی د خلیفه القادر بالله له خوا دیمین الدوله لقب ورکړشو ، اوپه ۳۹۳ کښی یی پرخلف بن احمد صفاری باندی بری وموند ،اوخلف ده ته سلطان وویل، وایی چه محمود رومبنی شخص دی چه سلطان باله شوی دی .

وروسته له هغه محمود هندته مخه واړوله اودهند زیاته برخه یی ونیوله او داسلام دین او فارسی ژبه یی هلته رواج کړل . او دغو فتوحاتو له لاری یی ډېر او ډېره شته په لاس راوستل . اوپه (۴۰۱) کښی یی دغور حکومت تابع کړ ، اوپه ۴۰۳ه کښی یی دمرغاب سیمی ونیولی اوپه ۴۰۷ کښی ماوراء النهر د خیل قلمرو ضمیمه کړ. او دغزنی دولت له لاهور څخه تر اصفهان پوری اوله سمرقند څخه ترسیند پوری بسط درلود ، او دمحمود په زمانه کښی غزنی د(دارالعلم) حکم لاره . وایی: چه دده په دربار کښی هلور سوه شاعران وو ، دغه شعر خوښوونکی سلطان په عالمان اوشاعران تشویق کول ، او صلی اولوی لوی بخششونه به یی ورکول ،اودده دربار دنړی له خورا لویو علمی دربارو څخه ؤ، اددده عصر دفضلاؤ ،شاعرانو اوفلاسفه وو له حیثه دعلمی اوادبی عصرونو په منځ کښی خورا ځلاند او روښانه عصر ؤ . شاعران او پوهان به له هری خوا څخه ددغه بزرګوار سلطان دربار ته راتلل او دده دروازه دفاضلانو اوښوښو عالمانو ملجاء او دخوشالی ځای ؤ .

دشاهنامی کتاب چه دمشرق په مخکه کښی د افتخار وړ کتاب دی په دغه عصر کښی دغه ستر سلطان په امر اوتوجه منځ ته راغلی دی . اوپه دغه عصر کښی نورعلمی آثار او کتابونه تالیف اوولیکل شول ،چه په خپل ځای کښی به له هغو څخه بیان وکړو .

ابو القاسم یمین الدوله محمود په (۴۲۱ه) په غزنی کښی وفات شو ،اودده زامن امیرمسعود به اصفهان کښی ؤ ، اوامیرمحمد په اصفهان کښی ؤ ، د غزنی لو یانو محمد چه کشر ؤ غزنی ته راوغوښت .اوپرتخت یی کښیناؤ، لکه چه سلطان محمود هم پرده باندی شفقت در لود ، امیرمسعود له داسی کار څخه په قهر شو او دزیاتو لښکرو په زور یی برغزنی باندی برغل راوړ، چه په پای کښی بریالی هم شو .

دده په وخت کښی بوه لویه پیښه داوه چه دده په وخت کښی سلجوقی ترکانو پرخراسان یرغلونه وکړل اومسعود څووازه هغوته ماتې ورکړه خو په پای کښی په (۴۳۱) کی یی دسلجوقی له خواماتې ورکړه او د هندوستان خواته ولاړ . اوخلکو محمد بیا باچا کړ. مسعود په پای کښی په ۴۳۲ کښی ووژل شو .اودده زوی دخیل پلار دبور او انتقام غوښتلو له امله له محمد سره په جګړه اخته شو اوهغه ته یی ماتې ورکړه اوبه ۴۳۳ کال یی ووژه، اودی باچا شو اوتر ۴۴۱ه کال یو ری ژوندی ؤ . له مودود څخه ورو سته غزنویانو نور وس نه درلود اوددغی سلسلی باچاهانو یوالحی په غزنی اودهغه په خواوشا اودهندوستان پریوه برخه باچهی کوله، اوخسرو ملك ددغی کورنی ورو ستنی باچاؤ ، چه په ۵۸۳ کښی په لاهور کښی دمعزالدین محمد سام غوری له خوا بندی شو اوبه ۵۸۹ کښی به غور په فیروز کوه کښی دغوریانو په اصلی مرکز کښی ووژل شو:

له دې لاری او ددغه شخص په وژلو سره د غزنویانو دولت خاتمه وموندله .اوددغه دولت په تاریخی نتائجو څخه یوه داوه چه اسلامی دولتونه یی دهندوستان لارخلاصه کړه، چه له غزنویانو

څخه وروسته بیا غـوریانو هغی خـواته پر غلو نه وکـړل او داسلام مقدس دین ئې په هغه وسیعه منطقه کښی رواج او تقویه کړه، او پارسی ژبه ئی په هغووطنو کښی رواج کړه .

شـاعران :

عنصری : ابوالقاسم حسن بن احمد تخلص یی عنصری ؤ ، دی دام البلاد ، دبلخ دښارؤ، دزیږیدنی نیټه یی (۳۵۰ه) لیکلې ده، اوده دژواندانه له اولو وختو څخه اطلاع نشته .

حسین بن اسعد بن حسین دهستانی ،د(فرج بعدالشده) په کتاب کښی دعنصری په باب کښی چه له غلو سره دچار شوی ؤ یوه قصیده نقل کړې ده ، مجمع الفصحاء لیکلی چه ده دخوانیږ په اولو و ختو کښی سوداګرې کوله ،او په لار کښی غلو نیولی ؤ ورو ستـه له هغه په تحصیل بوخت شعر اوشاعری ته یی پیل و کړ،خوشاعرانو اولوړو کسانو ته چه د داډول پېښو نسبت کوی څوك ډېر غوږ نه ورته نسی . دقصیدی مطلع :

همی روم بمراد و همی زیم بامان
بجاه ودولت و نام خدا یگان جهان

او په هغه قصیده کښی چه دنصر بن ناصر الدین سبکتگین د سلطان محمود دکشر ورؤ په کشر ورؤ په ستاینه کښی ویلې ده خیل لحان یی لخوان بللی دی :

مرا جوان خردو پیر بخت بگزیدی
بنام توخودم پیر گشت و بخت جوان

گواګی د(۳۹۰) په خواوشا کښی چه نصر بن ناصر الدین دبلخ حکمرانؤ ، دی دهغه په دربار کښی ؤ،او نصر بن سبکتگین هم دده احترام ساتو او دده نیه تربیت اوداحوالو پوښتنه به یی هروخت کوله ، اومال نعمت اولوی لوی بخششونه به یی ورکول اوعنصری په هغه قصیده کـښی چه د د غه امیر به مدحه کښی ویلې ده ودې مطلب ته یی اشاره کړې ده :

زرسم تـو آمـو ختم شاعری بمدح تـوشد نام من مشتهر
که بودم که من اندرجهان بیش ازین کرابود در گیتی ازمن خبر
ز جاه تو معروف گشتم چنین من اندرحضر نام من در سفر

دعنصری مړینه یی به ٤٣١ ه کښی لیکلې ( عنصری دې وکـتل شی ) .

( فردوسی : کـنیه نوم یی ابو القاسم دی ، او اصلی محضه نوم یی ، حسن . احمدمنصوری بولی ، او دپلار نوم یی شکمن دی لحینو علی اولحینو اسحاق بن سرنشاه اولحینو نورو احمد بن فرخ لیکلی دی ، اوتخلص یی بی اختلاف فردوسی دی ، او په شاهنامه کښی خیل لحان فردوسی بللی دی .

اودز و کړې ځای یی لـکه چه نظامی عروضی وایی : دطوس دطابران په ناحیه کښی د (باژ) کلی دی ، اود زیږیدنی نیټه یی معلومه نه ده ، نوپوهانی دومره څـر گـنده ده چه په ٤٠٠ هجری کال کی چه ده شاهنامه تمامه کړې ده ، دی(۷٦) کلن ؤ ، لکه چه دی وایی :

زهجرت بشد پنج وهشتاد بار که من گـفتم این نامهٔ نامدار
کـنون عمر نزدیك هشتادشد امیدم بیك باره برباد شد

دی په ٤١١ ـ اویا په ٤١٦ هجری کښی وفات شوی دی ، او په دغه وخت کښی دی نوی کلن ؤ . دده شاهنامه یو خورا ستر مشهور ادبی اثر دی :

اودا لاندینی بیتونه یی دخپل لحان په باب کښی ویلی دی :

جهان کرده ام از سخن چون بهشت
ازین بیش تخم سخن کس نه کشت
بنـا های آبـاد گردد خراب
ز بـاران و از تـابـش آفتاب
بی افـگـندم از نظم کـاخ بلند
که از بـاد و بـاران نیـابد گـزند
نمیرم ازین پس کـه من زنـده ام
کـه تخم سخن را پراگـنده ام

( نور تفصیل دې د «فردوسی» ترعنوان لاندی وکتل شی)

فرخی: دلباب الالباب خاوند اود(هفت اقلیم) خاوند دفرخی نوم(علی) ښودلی دی ، او کـنیه یـی ( ابوالحسن ) لیکلی دی . نظامی عروضی دده دپلار نوم «قولوغ» بللی دی او هدایت او آذر «جولوغ» لیکلی دی. اوتخلص یی دتولو په اتفاق فرخی دی . او په شعر کښی یی هم خیل لحان فرخی بللی دی . فرخی ښه. شعر وایو اوچنگ به یی هم واهه. ده خیل عمر دجفانیانو دامیر به خدمت کښی اود غزنویانو په دربار کښی تیر کړی دی . دده قصیدی دتشبیب اوتغزل اووصف مناظر اودشاعر دروحی احوالو له حیثه کاملی طبیعی دی .

دفرخی دیوان (۹۵٦٤) بیته دی .

دده دزوکړې نیټه اود عمر موده نه ده معلومه . اومړینه په ٤٢٩ کښی لیکلې ده . دشعر نخبه یی په لاندینی ډول ده :

خوشا عاشقی خاصه وقت جوانی
خوشا با پری چهره گـان زندگـانی
خوشا با رفیقان یك دل نشستن
بهم نوش کردن می ارغـوانی
بـوقت جوانی کـنی عشق بهتر
گـه هنگام پیری بود ناتوانی
جوانی که پیوسته عاشق نباشد
دریـغ است ازو روز گـار جوانی

« نور تفصیل دې د ( فرخی) ترعنوان لاندی وکـتل شی »

منو چهری : ابوالنجم احمد بن غوص بن احمد منوچهری دی ، او تذکره لیکونکی پردغه باندی سره اتفاق دی . دده دزېږېدنی نیټه معلومه نه ده ، اود زېږېدنی ځای ځینو بلخ لیکلی دی ، خو دده دديوان له دې لاندینی بیت څخه څرګندیږی : :

سوی تاج عمرانیان هم بدین سان
بیامد منو چهری دامغانی

څرګندیږی چه دی « دامغانی ) دی ، منو چهری له ٤٢٤ه څخه وروسته دسلطان د غوښتنی به سبب اود هغه دوزیر خواجه احمد بن عبدالصمد له کومك څخه دهیلې په اثر دسلطان مسعود دربار ته ورغی ، خو په ٤٢٦ کښی دسلطان دمسافر تونو له کبله دهغه له خدمت څخه لېری پاته شو .

منوچهری دبار یکې طبعی خاوند شاعر وٌ ، او دپوره ذوق خاوند وٌ دده دیوان دطبیعت له ښکو لتوب او ګل او بلبل څخه ډك دی . دده موجوده دیوان دری زره بیتونه لری . دالاندینی دوه بیتونه دده دیوی مهمی قصیدی څخه دی .

شبی گیسو فرو هشته بدامن پلاسش معجزو فیرش گرزن بکردارزن زنگی که هرشب بزاید کودکی بلغاری آن زن

نوموړی په ٤٣٢ه کښی مړشوی دی .

(نور تفصیل دې دمنوچهری ترعنوان لاندی وګورئ )

عسجدی مروزی : ابونظر عبدالعزیز بن منصور ، دولتشاه وایی : چه دی دهرات وٌ ، اوعوفی اوځینی نوروایی : چه مروزی دی. اودزوکړې نیټه یی نه ده معلومه ، اومړینه یی مجمع الفصحاء په ٤٢٢ کښی لیکلې ده ، اوداچه دی دسومنات له فتح څخه (٤١٦) وروسته مړ شوی دی درواغ نه ده ، ځکه چه د سومنات له فتح څخه وروسته ده دسلطان محمود ستاینه کړې ده . دده نوم په عنصری اوفرخی پسی راغلی دی ،خودیوان یی په لاس کښی نشته.

عوفی دالاندینی بیتونه دعسجدی بولی .

گهی بلندو برو قلعه نها ده بلند
بلندهای جهان زیرو اوزجمله زبر
با ستو اری زر بخیل زیر زمین
به پایداری نام سخی میان بشر
به سختی دل بدخواه برج اولیکن
بکار برده درو سنگهابسان جگر

زینتی علوی : دمحمود اومسعود دربار له شاعرانو څخه وٌ. دده کنیه نوم او دزېږېدنی ځای اومړینه اودژوندانه احوال یی نه دی معلوم .

مسعودی : لکه چه خپل تخلص یی د سلطان مسعود له نامه څخه اخیستی دی ،اواصلی ځای یی (ری) دی،خودغزنی دباچهانو په دربار کښی اوسیدو، دزېږېدنی اومړینی تاریخ یی نه دی معلوم . دالاندینی بیتونه چه د نصیحت په ډول ویلی و و ، د بیهقی دتاریخ دبیان له مخی چه هغه دسلطان دخپه کیدو سبب شو ، نویی دی هند ته فرار کړ .

مخالفان تو موران بودند مار شدند
برآر زود ز مو ران مار گشته د مار
مده زمام شان زین بیش وروز گار مبر
که اژدها شود از روز گار یابد مار

راشدی : دمسعود سعدسلمان په دیوان کښی دسلطان ابراهیم ددربار دشاعر راشدی نوم څووارہ اومکرر یاد شوی دی، او دالاندینی شعرهم د راشدی دی چه دسلطان دپیل ستاینه یی کړې ده :

رونده شخصی وقلعه کشای وصفدر پناه عسکرو آرایش معسکر

په لاندینی مطلع یی دوې قصیدې جواب و یلی دی :

همی گذشت بمیدان شاه کشور عظیم شخص قلعه ستان وصفدر
بدان طریق بنا کردم این که گوید حکیم راشدی آن فاضل سخنور

غضائری رازی : ابوبزید محمد غضائری رازی، اصلی ځای یی ری دی اودبهاء الدوله له دیلمی په دستګاه کښی وٌ ، خپل تخلص یی له (غضاره) څخه چه دهغی خاوری په معنادی چه خاورین لوښی ورڅخه جوړیږی جوړ کړی دی. دنارائن (نارین) دکلاله نیولو څخه وروسته ، غضائری په هندوستان کښی دسلطان محمود په ستاینه کښی (٤٠٠) قصیدی وو یلی او دسلطان حضور ته یی غزنی ته راولېږلی،اودسلطان له خوادوې (بردی) صله ورکړه شوه.

اوددە مړینه مجمع الفصحاء په ٤٢٦ کښی وایی .

عمادی غزنوی : شهریاری عمادی دی ، اوځینو له عمادالدین غزنوی ځانته بل شاعر بللی دی ، او ځینو دده دزېږېدنی ځای غزنی بنو دلی او دمختار زوی یی بولی . اوځینی نور وایی چه دده دزوکړې ځای دری په مربوطاتو کښی دشهریار کلی دی. تقی الدین کاشی وایی چه په ٥٧٣ کښی دی وفات شوی دی عمادی د خپل وخت له مشهورو کسانو څخه وٌ، او دده اشعاریی ترشپیزو زرو پوری لیکلی دی ، اودالاندینی دوه بیتونه دده له اشعارو څخه دی :

بروز نیك نما ندم امید و چون ماند
که صدهزارغمم هست و نیست یك غمخوار
فرشته ایست برین بام لاجورد اندود
که پیش آرزوی عاشقان کشد دیوار

شاه ابورجاه غزنوی : نظامی ، دی آل ناصر له شاعرانو څخه وٌ ، اوعوفی یی دسلجو قیانو له شاعرانو څخه بولی. او دده دزېږېدنی نیټه نه ده معلومه ، اودبهرامشاه په ستاینه کښی

(۵۱۷-۵۲۲)قصیدی لری ، اوشرگند پېزی چه تر ۵۹۷ پوری ژوندی ؤ .

دادوه بیتونه دده له یوی قطعی څخه چه د بهرام شاه درګ وهلو په وخت کښی ویلی ده رانقل شوی دی :

آمد آن کودك مسبح پرست نیش الماس گون گرفته بدست
طشت زرین ستان و خواست با زوی شهر یار عالم بست

مختاری غزنوی : سراج الدین عثمان بن محمد مختار غزنوی، نومورې دغزنی د دربار له ستر و شاعرانو او قصیده و یونکو څخه دی ، دسنانی دیوان په پخوانیو نسخه کښی دده کنیه نوم (ابوعمر عثمان بن عمر مختاری) لیکل شوی دی .

دده دیوان ۸ زره بیتونه لری اواوس شته دی ، اودفردوسی په پیروی د(شهریارنامی) په نامه یوه مثنوی لری اود(۵۳۵- ۵۴۴..۵۵۴ ) کلو په منځ کښی دده دمړینی نیټه مختلف فیه ده :

سیدمحمد بن ناصر علوی غزنوی: عوفی وایی چه دی دستر و شاعرانو له جملی څخه یو تن دی، اوحضرت سنائی دبلخ په کارنامه کښی ،دی دسیدشرف الدین محمد ناصر په نامه یادکړی دی، اوپه هغه قصیده کښی چه داور اواوبو په التزام یی ویلی ده هم یی دمحمد بن ناصر ستاینه کړې ده .

عطاء یعقوب: ابوالعلاء عطاء بن یعقوب دسلطان ابراهیم دزمانی له شاعرانو څخه دی ، اولقب یی ناکوك دی ، او مسعود سعد له ده سره دوستي اوملګرې لری لکه چه وایی :

ای رفیقان من ای عمر و منصور و عطاء
که شما هر سه سمائید وهوائید وصبا

عطاء په تازی اوفارسی ژبو دوه دیوانونه لری اودسلطان ابراهیم په اخیر کال په ۴۹۱ه کښی مړ شوی دی .

سیدحسن غزنوی : دده نوم سیدحسن اولقب یی (اشرف) ؤ اوشعری تخلص یی هم حسن ؤ او کنیدیی (ابومحمد) او (ابوعلی) ضبط شوی دی اودپلار نوم یی (محمداحمد ناصر) یادکړی دی خو ناصر یی حقیقت ته نیزدې ښکاره کیږی دی په(۵۵۵- او۵۵۷ه) کلو په منځ کښی د(آزادوار) په کلی کښی وفات شوی دی .

اودده دیوان د (۴۷۵۰) په خواوشا کښی بیتونه لری .

دادی دده د کلام نخبه له هغه ترجیع بند څخه چه دملکشاه په تهنیت کښی ویلی ده یو بند راوړو :

خسروا گفتم سپهرارکان شوی اینك شدی
یاد شاه جمله کیهان شوی اینك شدی
درممالك کوس اسکندر زنی آخر زدی
درعدالت به زنو شیروان شوی اینك شدی
ازرخ دولت گلی حشمت چنی اینك چیدی
برتن امکان سراحسان شوی اینك شدی
طالع میمون تو حکم همایون کرده بود
کافتاب سایهٔ یزدان شوی اینك شدی
بر در بغداد گفتا خواجه بر هان دین
کای تا پنج روز سلطان شوی اینك شدی
از ملك شه جد خود یاد کردی بخت گفت
خسرواالله که صدچندان شوی اینك شدی

☆ ☆ ☆

منت ایزد راجهان فرملکشاهی گرفت
بانك نام دولتش از ماه تا ماهی گرفت

(نور تفصیل دپاره «سید حسن غزنوی» تر عنوان لاندی وګتل شی )

مسعودسعدسلمان : دی په اصل کښی دلاهور اوبا دهمدان دی خو نیکه ګان یی دغزنو یانو په وخت کښی غزنی ته راغلی وو اوددغه دولت دعاملا اومامورینو په ډله کښی د اخل شول ده مسعود سعد پلار (۶۰)کاله دهغه دولت ددیوان اودفتر په چارو کښی وظیفه دارؤ، لکه چه دی وایی :

شصت سال تمام خدمت کرد پدر بنده سعدبن سلمان
که باطراف بودی از عمال گه بدرگاه بودی ازاعیان

اودهغه دزوکړی دخای، په باب کښی چه په همدان کښی ؤ او که په لاهور کښی دی اختلاف شته اودهغه دزوکړې نیټه هم نه ده معلومه اود۴۳۸ او ۴۴۰ په منځ کښی بلله شوې ده مسعود دسلطان ابراهیم بن مسعوددزوی محمود په حضور کښی چه په ۴۶۹ کال کښی دهند حکمرانی دده په لاس کښی وه دعزت خاوند ؤ خودخپلومحاسدینو دبد خواهی له کبله دد غه شاهزاده له خوا دعتاب لاندی اووریځل شو، اودښمنانو یی په لاهور کښی دده دپلار ملکونه تصرف کړل اوچه دی په غرض غزنی ته راغی بیا دحاسدینودغیبت په اثر دسلطان ابراهیم په امر د(دهك) په بندیخانه کښی بندی شو، بیاد(سو) په کلا کښی بیاد (نای) په کلا کښی بندی پاته شو، ترخوچه له دری کاله بندځخه وروسته دنای په کلا کښی دابوالقاسم خاص په مرسته له بندځخه خلاص شو ،اولاهور ته بیرته ولاړ اودخیلی مخکی په کرهنه اوزراعت بوخت شو دابراهیم له مړینه څخه وروسته دهغه دزوی مسعود په زمانه کښی بیا دعزت اومقام خاوند شو، اود(چالندر) حکمران مقرر شو ، خو بیاهم دمحاسدینو اوبدخواهانو دکوشش په اثر مسعودسعد دسلطان په امر د(مرنج) په کلا کښی بندی شو، چه په پای کښی دثقة الملك په کومك بیا ددریم مسعود له حضور څخه معاف اووبخښل شو. وروسته دملك ارسلان اوبهرامشاه په دوره کښی هم دعزت خاوند ؤ ،په پای کښی د(۸۰) کلنی په حدودو کښی مړ شو دده دوینا نخبه :

دلم زاندوه بیحد همی نیا ساید
تنم زرنج فراوان همی بفرساید

بخارحسرت چون برشود زدل بسرم
زدیدگانم باران غم فرود آید
ز بس غمان که بدیدم پنان شدم که مرا
ازین پس هیچ غمی پیش چشم نگراید
دوچشم من رخ زرد تو دیده نتوانست
ازان بخون دل آنرا همی بیالاید
چرا نگرید چشم و چرا ننالد تن
چگو نه کم نشود صبرو غم نیفزاید

که دوستدار من ازمن گرفت بیزاری
بلی و دشمن بر من همی ببخشاید
اگر ننالم گو یند نیست حاجتمند
وگر بنالم گو یند ژاژ میخواید
غمین نباشم از خدای عزو جل
در نبندد تا دیگری نه بکشاید

( نور تفصیل دې د «مسعود سعد سلمان» ترعنوان لاندی وکتل شی )

سنائی : ابوالمجد مجدودبن آدم ، حکیم ، شاعر اومشهور متصوف ؤ . دی په غزنی کښی زېږېدلی دی ، لکه چه پخپله وایی :

گر چه مولد مرا بغزنین بود
نظم شعرم چو نقش ماچین بود
خاك غزنین چو من نزاد حکیم
آتشی باد خوار و آب ندیم

دده دز وکړې نیټه نه ده معلومه ، خوده دزوکړې کال چا په (٤٣٧ﻫ) کښی لیکلی دی ، سنائی پرومی دغزنی دپاچاهانو په دربار کښی ؤ ، وروسته یی په پردیسی (مسافرت) پیل کړی دی بلخ ، سرخس ، نیشاپور اوهرات ته تللی دی بیا بیت الله شریف ته دحج دادا ګولو دپاره تللی دی ، دخپل عمر په وروستنیو وختو کښی بیرته غزنی ته راغلی دی ، اوده دوفات دکال په باب کښی اختلاف شته ، خوداچه به (٥٢٥ﻫ) کال کښی وفات شوی دی صحت ته نژدې دی .

دحکیم سنائی دیوان اوحدیقه مشهور دی .

( نور تفصیل دې «سنائی» په عنوان کښی وکتل شی )

دغزنوی دوری شعری سبك : دغزنوی دوری سبك ته په کلی ډول یونوی سبك اویابین البین وایی ، لکه چه دا سبك اودا طرز دزاړه سامانی سبك او دعراقی سبك په منځ کښی دی ، اوله همدغه وخت څخه دی چه خراسانی سبك په عراقی سبك بدلیږی ، اوپه عراقی سبك سره د خراسانی سبك دبدلیدو نښه او اثر دغلرمی پیرې په وروستیو وختو کښی پوره څرګند دی ، په دې توګه چه په پارسی شعر کښی ، لفظ په ورو ، ورو ، دې خواته ځی چه د معنا له حدودو څخه دباندې ارزښت ولری ، او دا ارزښت سره دهم آهنګی له سانتی له مجاورو الفاظو څخه پیدا کوی . اوداهغه غوره خواص دی چه سو که سو که د پارسی شعر سبك له خپله په خوانی ساده حال څخه دفنی بشپړ توب او کمال خواته ځی .

په سامانی سبك کښی موزون وچه پارسی شعر په لفظ او معنا دواړو کښی سادګی لری ، یعنی شاعر به هیڅکله په لفظی بنایست پسی نه ګرزید ، اوپه دې پسی به یی هڅه نه کوله چه معناګانی په سخت اومشکلو الفاظو کښی پټی کړی ، اوله دغه جهته بی له اندازې زیات دعربی الفاظو استعمال ته چه په ژبه کښی به یی رواج نه درلود احتیاج نه درلود ، خوپه ورو ورو ، ورو ، دې ذوق په شعر او په نثر کښی خیل ځای وفنی تکلیفی ذوق ته پرېښود ، اودغلورمی پیرې له اخیرو وختو اودښځمی پیرې له اولو وختو څخه پارسی شعر په دې لار کښی روان شو چه داسلوب او الفاظو بنایست او رنګینتوب دمعنا ترکمال وړاندی مراعات اووساتی ، نوهرو مرو به دې ته اړ کېدل چه پیر لغات استعمال کاندی . اوله دې کبله دی چه له خراسانی سبك څخه عراقی سبك ته د بدلیدو اوتغیر مقدمی په همدې دوره کښی شروع کېږی ، لکه چه که دهغه وخت د شاعرانو آثار مطالعه اوو کتل شی نواوله نکته چه لیدله کېږي هغه به داوی چه شاعر به پیر عربی او آزاد لغات استعمال کړی وی . اوچه دلفظی صنائعو دمراعات کولو دپاره به شاعر په دې ترتیب سره عربی لازم اووړ لغات په خپل واك کښی ارل ، نوپه ورو ورو ، عربی صنائع اوتکلفات پرپارسی شعر باندی پرې وموند ، اوپه شعر کښی لفظی صنعت زیاته زیاته لار پیدا کړه اودعربی لغاتو استعمال ته احتیاج زیات شو . اوداسلسله تر داسی اندازې ورسیده چه دعراقی سبك ددورې په اخیرو وختو کښی هم په شعر اوهم په نثر کښی داسی عربی لغت نه ؤ چه شاعر به ددغی دورې په شعر کښی نه ؤ استعمال کړی ، لکه چه په وروستنیو وختو کښی دعراقی سبك په منظومو اومنثورد آثارو کښی دعربی ژبی ځینی داسی مشکل لغات لیدل کېږی چه پخپله په عربی کښی یی ډېر لږ استعمال درلود .

بله خاصه چه په دې دوره کښی پی ورو ، ورو ، په پارسی شعر کښی لارموندلې ده ، دډول پول کیدو اونوی کیدو ( ابتکار ) مینه ده ، چه شاعران اولیکونکی به په دې پلټنه کښی وو ، چه خیل مضامین په نوی نوی تشبیهاتو اونوی استعارو اوتازه کنایاتو باندی مشتمل راوړی ، اوددې اوښتو ( تحول ) نخبه دسامانی سبك له وروستنیو وختو څخه شروع کېږی ، اوله دغی دورې څخه وروسته ساده تشبیه له منځه لځی ، اودهغی پرځای حسی اوعقلی اومضمری مرکبی تشبیهګانی پیدا کېږی . په سامانی سبك کښی کنایات محدود وو ، سره له دې چه په ژبه کښی بی رواج درلود ، خوله دې دورې څخه وروسته شاعرانو کنایې پیدا کړې او کنایې ترکیبونه یی جوړ کړل . اوددغی دورې په اول کښی داډول کنایات

له‌هغو کسانو ناباتو څخه چه په‌ژبه کښې رواج‌وو چندان لیری نه‌وو، اودا ډول کنایات دمعنا د پټیدو اوورکوالی سبب هم‌نه کیدو خو په وروستنیو دورو کښې سخت اودرانه اوله‌ذهن څخه لیری کنایات دشاعرانو له‌خوا ډیرخوښیدل ، دغزنوی سبك له‌اولو وختو څخه په‌پارسی‌شعر کښې نوې استعاری لید لی کیږی . خو خاص حدود به‌یکښې ساتل کیدل . چه‌وروسته دعراقی‌سبك په اواخرو کښې دا استعاری‌دې اندازې ته‌رسیږی چه‌جامع یی هیڅ معلوم نه‌دی ،

ددې سبك بله خاصه‌داده چه په‌شعر کښې یوه برخه لږ یا زیات دعلم کلام اومنطق فلسفه معنا ګانې شته که څه‌هم په‌ددې دوره کښې ددې برخې په‌باب کښې‌ډیرآثارهم نشته ، خو څه‌څه شته چه‌دوروسته‌دورې داوښتلو (تحول) بنسټ‌په‌دغه زمانه کښې اینې شوی‌دی . شاعرانو به‌په‌دغه‌دوره کښې دداډول معنا ګانو په‌استعمال کښې زیات تفنن نه کاوه ، اوهغه معنا ګانې به یی ډیری ساده اوبی‌له کوم تغیر څخه په خیل شعر کښې بیا نولی . خو وروسته علمی مضامین دشعردتفنن له‌وسائلو څخه‌شوو ، چه حتی دصرف،نحو ، بدیع اوعروض اونوروعلومو له‌اصطلا حاتو څخه به‌یی دمضمون دپیدا کولو دپاره استفاده کوله

اوددې سبك بله‌خاصه داده : چه‌په پارسی شعر کښې به یی بدیعی صنعتونه‌راوړل . دترجیع دصنعت‌مقدمی چه‌په عراقی‌سبك کښې‌مهم‌صنعت ګڼل کیږی په‌ددې‌دوره کښې‌شروع اواستعمال‌شوی. که‌څه‌هم دعنصری په‌اشعارو کښې‌دترجیع داسی صنعت لکه‌چه‌په بدیع کښې دهغه تعریف شوی‌دی نښته ، خوددغه شاعر په‌ډیرو اشعارو کښې ددوو مصرعو د کلمو به‌منځ کښې یو ډول ډیری ظریفی قرینه سازی‌شته ، اوپه‌ډیرو ځایو کښې ددوو مصرعو په‌منځ کښې ترکیبی تناسب شته‌دی ، او وروسته بیادغه کیفیت ددوو مصرعو په‌منځ کښې دکلمو دشمیر پـه تناسب ورو، ورو ډډلپیږی ، چه‌څه په‌عراقی تکلیفی سبك کښې‌ترصیع ته‌رسیږی.

دغزنوی شاعرانو په‌اشعارو کښې لفظی‌صنائعوته بارزه او ښکاره توجه راغلې‌ده ، خوپه‌شعر کښې لامعنا حاکمه ده نه‌لفظ اودوی به‌ترهرو لو زیات دمراعات النظیر اوتضاد صنعت ته‌مترجه وو . داؤ د غزنو ی دورې دسبك دخواصو لنډ بیان . اود هر شاعر دخواصو او کتابو په‌باب کښې دې ددوی د افکارو شرح حال ته‌رجوع وشی .

## په غزنوی دوره کښې پارسی نثر :

لکه چه‌غزنویانو دپارسی ادب او شعر خواته توجه لرله اودهغو په‌زمانه کښې دادبیاتو څانګه مخ پر کمال و لاړه ، په همدغه توګه پارسی‌نثرهم‌ترقې وکړه او زیات آثار په‌هغه کښې ولیکل شول، خودنثردسبکونو ددوره بندیـ په‌لحاظ له غزنوی دوری دآثارو یوه‌برخه‌د سامانی دوری‌په‌سبك پسی بلله کیږی، اودهغی دپاره هم‌هغه خواص چه‌دسامانی دوری دپاره‌یی بولو، راوړو . لکه ایجاز ، اختصار ، اوسجع او موازنی ته‌نه توجه، اولکه‌تکرار(چه‌دیولفظ‌تکراروی‌اویادیوې‌جملې‌یادیوفعل‌تکرار وی) اودجملولنډ والی اودعربی لغاتولږاستعمال اودزړوپارسی لغاتو استعما لول او دتاکید د (باء) استعمال اوداستعلاء د (بر) استعمال‌اودفارسی په‌صیغوسره دعربی جمعو راوړل (لکه‌عالمان ملکان) اوپرعربی جمع باندی دپارسی دجمع د علامی زیا تول ( لکه عجا ئبهاومنازلها)اودعدد اومعدود سره مطابقت اوسره له‌یخوانو پیشا وندانو د افعالو راوړل ، لکه (راز ، فرا،فرو ، همی) اونور . هغه برخه آثار چه‌په‌دغه‌دوره کښې‌لیکل شوی‌دی په‌لاندینی ډول‌دی :

۱ ـ التفهیم‌لاوائلی صناعت‌التنجیم ـ البیرونی .

۲ ـ دانشنامه علائی : ابن‌سینا ، شیخ الرئیس شرف الملك ابوعلی حسین عبدالله بن‌سینا دبلخ له‌خلکو څخه‌ؤ اودخیل‌وخت له‌لویو طبیبانو اوسترو حکماؤ څخه‌ؤ . دشیخ پارسی مؤلفات: دانشنامه علائی ، رساله نبض ، قراضهٔ طبیعیات . رساله معراج‌ونبوت دی، چه‌داډول دسامانی دوری‌په‌سبك‌لیکل‌شوی‌دی اودشعر زیات مشهور عربی مؤلفات : دشفاء کتاب ، نجات ، الاشارات و التنبیهات ، قانون ، حکمت شرقیه او نوری زیاتی رسالی‌دی ،

۳ ـ دسیستان‌تاریخ، اوده‌غه کتاب لیکونکی نه دی‌معلوم اوددغه کتاب پـومبیـ‌برخه ډیره پخوانیـ اوزړه‌ده ، اوله‌دغه کښله مودالتفهیم په‌ردیف کښې راوړې ، او د د غه کتاب بله برخه دشپږمې اواومې پیړیـ په‌سبك‌لیکلې شوې‌ده .

٤ ـ دګردیزی زین الاخبار دی د ابو سعید عبدالحی بن ضحاك بن‌محمود دګردیزی تالیف دی ، او نوموړی لیکونکی دافغانستان دګردیز دخلکودی، په‌زیاته سادګیـ اوروانی‌سره اوپه لنډه توګه‌یی دطاهریانوله‌زمانی څخه دغزنویانو ترزمانی بوری چه‌دی هم‌ددغه وخت‌دی تاریخی پیښی لیکلی دی، اودهغه دلیکلو نیټه ٤۰۰ هجری‌ده .

٥ ـ د ناصر خسرو تالیفات دی : دده نثری آ ثار ، لکه سفرنامه ، زادالمسافرین اووجه داډول داول عهدسبك اوطرزته نیزدی دی .

٦ ـ کشف المحجوب : د یعقوب سهاکزی تالیف دی چه‌د اسمعیلی مذهب په تائید کښې‌یی لیکلی‌دی ، او نو موړی مؤلف دغلرمی اوپنځمی پیړیو په‌منځ کښې‌ژوندرلود. هغه کتابونه چه‌په تصوف کښې لیکلی شوی اودغه سبك ته‌نژدی دی :

اول : کشف المحجوب ، دابوعلی بن‌عثمان‌جلابی هجویری غزنوی تالیف‌دی ، چه‌دپنځمی‌پیړیـ په‌منځنیو وختو کښې‌لیکل

شوی‌دی ، اویو خورا پخوانی کتاب دی چه دصوفیانو دعقائدو اوحالاتو اواقوالو په‌شرح کښی په‌بوره سلاست او خوږ ګلوې لیکل شوی‌دی .

دوهم ـ اسرارالتوحید . دمحمد بن‌منور ابوسعید ابوالخیر تالیف‌دی ، چه‌د٥٦٠ه په‌خواوشا کښی دشیخ ابو سعید په‌صفت او کراماتو په‌باب کښی لیکلې شوی‌دی .

دریم ـ تذکرة الاولیاءدی : دمحمد بن‌ابی‌بکر ابراهیم بن مصطفی ، چه‌فرید الدین‌ئې‌لقب اوپه‌عطار مشهورؤ ، تالیف‌دی نوموړی مؤلف په(٦٢٧ه ) کښی مړشوی دی اودا کتاب ئې دصوفیه بزرګانو دمقاماتو اوصفاتو په‌تعریف اودهغو دویناوو اود کارونو په‌بیان کښی لیکلی‌دی .

څلرم ـ نورالعلوم: داکتاب دابوالحسن خرقانی خاطرات‌دی نوموړی په(٤٢١ه) کښی وفات شوی‌دی ، اودا کتاب دده یو شاګرد سره جمع کړی‌دی اودانوم‌ئې ورباندی اښی دی .

داؤ، دپنځمې او شپږمې‌پیړۍ نثری‌آثارچه دسبك له‌نقطه‌نظره دسامانی طرز تعقیب اوپه هغه‌پسی‌دی .

اوس دادی ، چه په‌لنډ ډول‌سره دغزنوی او اولی سلجوقی دورې (٤٥٠ ـ ٥٥١ه) دنثر خواص بیانوو ، اوبیاهغه آثارچه په‌دغه سبك لیکل شوی‌دی بیانوو :

١ ـ اطناب : د لومړی دورې دنثر په‌خلاف چه ډیر کوتا اوپه‌لنډو جملوسره و، یوځه مفصل اواوږدې جملې‌لرې مترادفات په کښی لږدی،خوداسې الفاظ اوعبارتونه په کښی شته چه‌دمطلب دروښانه کولو دپاره‌دی اوپه پخوانی نثر کښی نه وو .

٢ ـ دعربی‌لغاتو ډېرښت : یوشمیرنوی لغات چه‌دسامانیانو په‌سبك کښی نه وو په‌دی دوره کښی په نثر کښی ګډ ییزی .

٣ ـ دمنونو کلماتو راوړل لکه عزیزاً مکرماً اونور داسې .

٤ ـ بی‌له قصده د تازی جملو ارسال مثل، ه‌فصلونو په‌سر کښی دغالب د خبرو یادول په تیره بیا ابوالفضل بیهقی له خپله ځانه عربی جملې بیابیا راوړې دی او هغوئی دفارسی دعبارتونو سره تړلی‌دی چه دغه عبارتونه او مطلبونه ئی پرې تمام کړیدی .

٥ ـ دجمله بندی شکل دتازی په‌تقلید په یوخاص ډول چه دعربی خاصه‌ده د سامانی په‌نثر کښی تقریباً هیڅ نشته .

٦ ـ په پخوانی نثر کښی د خارجی مطلبونو یادول لکه دفارسی اوعربی نظم نه استشهاد او په آیات اوتمثیل باندې استدلال ډیر نادروی خوپه دې دوره کښی په دی ډول سره رواج شویدی .

٧ ـ توصیف : په‌دی دوره کښی‌د جزباتو وصف په شرحه اوافعالو سره‌ی اوکله دجملې‌یوه برخه چه‌په قرینه سره حذفه وی هغه آثار چه‌په‌دی ډول لیکل شویدی دادی .

١ ـ ( دابونصر مشکان منشأت) ابونصر منصور دمشکان ځوی (چه د٤٣١کال دصفرې په میاشت کښی مړشوی) ددیوان رسالت محمود دمسعودخاوند اودخپلې زمانې یونامتوفاضل او ادیب و، ابوالفضل بیهقی، دده شاګرد یوه برخه دده منشأتونه د(بیهقی ) په‌تاریخ کښی راوړې ده .

٢ ـ تاریخ بیهقی : ابوالفضل محمد بن حسین بیهقی (٣٨٥ ـ ٤٧٠) ددیوان رسالت محمود لیکونکی دی محمد او مسعود ددیوان رسالت خاوند ( دحضور سرمنشی ) دده روزل شوی وو. دده تاریخ چه دیرش جلده‌دی دغزنویانو دپاچاهانو دلې په‌بیان کښی‌دی خوز یاته برخه ئی چه دمسعود دپاچاهی په‌وخت پورې مربوطه ده اوتاویخ مسعودی نو میزی پاتې ده همدالنډیزه نن دبیهقی په‌تاریخ مشهوره ده دغه کتاب په ډیر بلاغت اوروانی سره لیکل‌شویدی او دتاریخ لیکلو له‌نظره‌ئی پوره درښتیا ویلو اودبیطرفی دجنبې پوره مراعات کړیدی .

٣ ـ سیرالملوك یاسیاست نامه : دغه کتاب په خواجه نظام‌الملك ابوعلی قوام‌الدبن حسین بن علی بن اسحاق‌النقانی توسی دالپ ارسلان‌اوسلطان ملك‌شاه سلجوقی وزیرته منسوب دی چه‌په هغه کښی دپاچاهانو دسیر او ددوی دچال چلند او آدابو خبرې شویدی .

٤ ـ قابوس‌نامه دامیر عنصرالمعانی کیکاوس بن اسکندر بن تالیبوس بن و شمګیر تالیف‌دی چه دخپل ځوی ګیلانشاه دنصیحت په‌باره کښی‌ئې په (٤٧٥) کښی لیکلی‌دی اودفارسی ژبی ډیره ښکلې اوښه انشاده .

٥ ـ مجمل‌التواریخ والقصص : د غه کتاب په پنځه سوه اوشل هجری کال کښی تالیف شویدی اومؤلف ئی ندی معلوم خوپه ظاهر کښی دهمدان داسد آباد یوسړی‌دی .

٦ ـ سکندر نامه دغه کتاب دذوالقرنین دقصې په باب کښی لیکل شویدی اوپه ظاهر کښی دعربی نه‌په فارسی ترجمه شویدی دکتاب ټولوو نکی اوترجمه کوونکی ندی معلوم .

په پنځمه پیړۍ کښی علمی کتابونه :

١ ـ روضة المنجمین اونزهمت نامه دشهمردان بن ابی‌الخیر تالیفونه‌دی چه لومړنی په(٤٦٦) اوبل په (٤٧٧) کښی‌تالیف شویدی .

٢ ـ کیمیای سعادت دابو حامد محمد بن محمد بن احمد غزالی‌طوسی‌تالیف دی (٤٥٠ ـ ٥٠٥) دی داسلام دلویوعلماؤ اوعارفانو دډلې څخه شمېرل کیږی‌غزالی په‌فارسی اوعربی‌ډیر تالیفات لری چه په عربی کښی دده مشهور اثر احیاءالعلوم اوپه فارسی کښی کیمیای سعادت دی چه داحیاء العلوم لنډ یز اوجوهر باله شی .

۳ ـ نوروز نامه : خواجه امام الفتح عمر بن ابراهیم خیام ته منسوبه ده. نوموړی دپنځمی پیړۍ داخیرو اودشپږمې پیړۍ دلومړیو نامتو ریاضی دان اوحکیم دی . دغه رساله دنوروز دسبب اوهغو څه په بیان کښی چه نوروز پورې اړه لری ، ده .

دغزنویانو دزمانی پوهان چه خپل اثاریی په عربی لیکلی دی:

۱ ـ ثعالبی نیشا پوری (چه په ٤۲۵ کال کښی مړ شوی ) دتیمت الدهر دمشهور کتاب مؤلف دی چه دغه کتاب ئی وروسته دتمت التمیه دکتاب دتالیف کولو سره سره رسولی دی دا کتاب دهغو شاعرانو دحال دبیان په باره کښې دی چه دفارسی اوعربی ژبی شعرونه ئی ویلی دی .

۲ ـ بدیع الزمان همدانی چه په (۳۹۸) کال کښی مړشویدی دمقامات د مشهور کتاب خاوند اودی لومړی سړی دی چه دمقامه لیکلو بنسټ یې کیښود .

۳ ـ ابوعلی مسکویه : چه په ٤۲۱ کال کښی مړشویدی دخپل وخت پوه اوتاریخ لیکونی دی . داسلام او ایران په عمومی تاریخ کښی تجارب الامم دده تالیف دی اودمسکو یه بل اثر په عملی حکمت اواخلاقو کښی تهذیب الاخلاق دی .

٤ ـ شیخ طوسی ابوجعفر محمد بن حسن طوسی (۳۸۵-٤٦۰ ) داستصبار د کتاب اودتهذیب الاحکام اونورو کتابو نومؤلف دی.

۵ـ امام فخررازی: ابوعبدالله فخرالدین رازی (۵٤۲-٦۰٦) دخپل وخت دحکماؤ اودمتکلیمنو دامامانو څخه دی دده مهم تالیفات نهایت العقول ، المحصل والمباحث الشرقیه ، والمحصول او دابن سینا شرح اشارات دی .

٦ـ شهاب الدین سهروردی : شهاب الدین یحیی بن حبش بن امیرك معروف په شیخ الاشراق (دزنجان دسهرورد) په (۵٤۸) کال کښی زیږیدلی او په ۵۸۷ کښی دملك ظاهر د صلاح الدین ایوبی دخوی په امر وژل شویدی . دی دخپل وخت اشراقی عالم او مشهور اثرئی حکمت الاشراق دی . نوموړی د شهاب الدین ابوحفص محمد بن محمد سهروردی دالعوارف المعارف دخاوند نه پرته داومې پیړۍ نامتو عارف دی چه سعدی یاد کړی دی .

۷ـ میدانی : ابوالفضل احمد بن محمد میدانی چه په (۵۱۸) کال کښی مړ شویدی دنحوي اولغت معروف عالم دی چه مشهور اثرئی مجمع الامثال والسامی فی الاسامی کتاب دی .

۸ـ زمخشری : ابو لقاسم محمود زمخشری خوارزمی په (٤٦۷) کال کښی زیږیدلی اوپه (۵۳۸) کال کښی مړ شویدی دده مشهور تالیفات دادوه کتابه دی چه یوئې په تفسیر کښې الکشاف عن الحقیقة التنزیل دی اوبل ئی په نحوه کښی المفصل دی اودوه کتابونه داساس البلاغت اودمقدمة الادب په نامه لری.

۹ـ شهرستانی : ابوالفتح محمد شهرستانی په (۵٤۸) کال کښی مړ شویدی دالملل والنحل دمشهور کتاب خاوند دی چه داسلامی مذهب په بیان او فرق کښی لیکل شویدی .

۱۰ـ باخرزی : ابو الحسن علی بن حسن باخرزی چه په (٤٦۸) کال کښی مړشوی . دمیة القصر د کتاب خاوند دی .

۱۱ جرجانی : ابوبکر عبدالقاهر بن عبدالرحمن جرجانی ، چه په (۵۰۲) کال کښی مړشوی ، دخپل وخت د مشاهیرو څخه و ده مشهور کتابونه اسرارالبلاغه اودلائل الاعجاز دی.

۱۲ـ طغرانی : ابواسمعیل حسین بن علی طغرانی اصفهانی چه په (۵۱٤) کال کښی وژل شویدی ، په عربی کښی یودیوان او نورتالیفات اری ، د خیلی زمانی نامتو ادیب دی او دلامیة العجم عربی قصیده ده ویلی ده ، دهغې زمانی نورمعروف علما ابوعبید عبدالواحد جوزجانی اوابو عبدالله فقیه معصومی د ابن سینا شاگردان او ابوالحسن بهمنیار بن مرزبان او ابو لفتح عالی بن محمد بستی د(٤۰۰) متوفی دی .

۱۳ـ ابو نصر محمد بن عبدالجبار عتبی د یمنی د تاریخ خاوند دی چه نوموړی کتاب وروسته د ابو الشرف ناصح جرفادقانی له خوا اوددوهمې پیړۍ په پای کښی په فارسی ترجمه شوی دی .

۱٤ـ انو شیروان بن خالد بن محمد کاشانی او ابوزکریا یحیی بن علی تبریزی دتبریز په خطیبانو مشهور دی .

شعرا :

ابوالفرج سگزی : په شعر کښی دلوی لاس خاونداودعنصری استاددی لومړی دسیمجور دکورنۍ مداح ؤ ، سلطان محمود بندی کړ اودوژلو حکم ئی ورباندې وکړ خودعنصری په شفاعت چه دده شاگرد و، له وژلو خلاص شو ، دمجمع الفصحا (ج اول ص۷۰) خاوند دی دده دعمر اوزدوالی (۱۲۰) کاله ښودلی دی داشوبیتونه دهغه دی .

عنقای مغرب است درین دور خرمی
خاص از برای محنت وغم زاد آدمی
چندانکه گرد صورت عالم بر آمدیم
غمخواره آدم آمد و بیچاره آدمی
هر کس بقدر خویش گرفتار محنت است
کس را ندا ده اند برات مسلمی

شمس الدین محمد بستی : ریاض الشعرا دی دیمین الدوله دسلطان محمود غزنوی دوخت شاعر ښودلی دی دابیت په هغه قصیده کښی چه دمحمود په صفت کښی ئی ویلی ده ده بولی:

شدم به بحرو زدم غوطه وندیدم در
گناه بخت من است این گناه دریا نیست

حقوری هروی : نومئی ابوالحرث بن محمد الحقوری هروی دی دمحمود دربار د حکیمانو او شاعرانو څخه و عوفی دی په

عنصری لوړ بولی اووایی . «شعرش ازشعری در گذشته وفضلش بساط هنرعنصری در نوشته» ه زیښ یدنې او مړینې نیټه ئی نده معلومه. ده دشعرونو نه لږشعرونه لاس ته راغلی دی چه دار باعی دهغه ده.

تا بر گل تو نگشت پید ا عنبر
از مشك زره نبود وز سیم سپر
تـاروی تو و لب تو ننمود اثر
درلاله نمك که دید ودر بسته شکر

عطاردی فراهی : د عوفی دلیك په قرار نوم ئی ابو عبدالله عبدالرحمن بن محمد العطاردی دی دزیښ یدنې ځای یې فراه شودلی دی، دمحمود غزنوی دشاعرانو څخه و شه قرب او لوړ مقام ئی درلود دا رباعی دهغه ده .

شدیارو مرا ببوسه خوشنود نکرد
بر سش ننمود و نیز بدرود نـکرد
آن آتش افرو خته جز دود نکرد
ازعشق بتان هیچ کسی سود نکرد

امینی بلخی : دسلطان محمود غزنوی دوخت یولوی شاعر دی. نوم ئی عبدالرحمن بن احمد بلخی په بابو سراقه سره مشهور دی دمجمع الفصحا د خاوند په وینا (ص۸۹ ج اول ) پلار ئی ترکانو چه له دې کبله ئی په دغه نامه شهرت موند لی دی داځو بیتونه دده له یوې قصیدې نه انتخاب شوی دی .

زره پوش ترك من آن ماه پیکر
زره دارد از مشك بـرماه اور
که دیدست زلف مسلسل زره پوش
که دیدست ماه منـور زره ور
بمشك اندرش تیر و بهرام وزهره
بمـاه اندرش سو سن ومشك وعنبر
بنزدیك من آمد کمر بسته روزی
یکی جامه پو شیده یکرنگ اخضر

مسرور طالقانی : ابوالفضل مسرور بن محمد طـالقانـی دمحمود دوخت شاعرو اوخینی وایی چه د محمود د څـوی دمسعود په وخت کښې ودزیږ یدنې او مړینې تاریخ ئـی ندی معلوم دادوه بیتونه ریاض الشعرا دده په نامه راوړی دی :

چنـانم که مجنون عامر نبود به تیمار لیلی به لیل و نهار
وفا دار مهر تو ام تا زیـم توخواهی وفادار خواهی مدار

مسرور دحسن میمندی په ستاینه کښې یوه قصیده هم لری. چه مطلع ئی داده .

چو ناپدید شد از چشم من چشمهٔ رو شن
دراز گشت شـب دیـر بـاز را دا مـن

بدایعی بلخی : مجمع الفصحا دده نـوم محمد بـن محمود شودلی دی .

اوریحانت الادب په (اول ص ۱۴۷) کښې محمود بن محمود راوړی دی . تخلص ئی بدایعی اودزیږ یدنې ځای یې بلخ دی، دسلطان محمود غزنوی دوخت شاعردی اودنوشیروان پندنامه ئی د(فعولن فعولن فعولن فعول) په بحر تقا رب سره نظم کړی ده داځو بیته دده دی.

سپاس از خداوند چرخ بلند که دردل نگنجد ازوچون وچند
جهان آفرین کردگار سپر فروزندهٔ پیـکر مـاه ومهر
نـگارندهٔ گـنبد کوز پشت نما یندهٔ راه نـرم و درشت

دادوه بیتونه هم دده دی :

نفیرا بر فرور دین بر آمد زبانگ ابر بانگ رودعاجز
بدان منگر که می منع است میخور بوقت الوردشرب الخمر جایز

یمینی غزنوی : نوم ئی محمد بن عثمان دی اوخپل تخلص ئی دسلطان محمود دلقب له املله چه یمین الدوله دیمین ایښی دی او اودبهرام شاه دوخته بوړې چه دسلطان مسعود څوی د ژوندی و، ډیرښه اشعار اوقصیدی لری تاریخ یمینی، چه دسلطان غزنوی په احوالو کښې لیکل شوی، دده دی . داځو بیتونه دهغې قصیدی نه انتخاب شول چه ده دبهرام شاه غـزنـوی پـه صفت کښې ویلې ده :

منت و شکرو سپاس بیقیاس حـدومر
ذوالجلالې را که بی حکمش نباشد خیروشر
اوج خضرای بسیط ازوی ملـمع درنجـوم
موج دریای محیط از وی مرصع در درر
دین احمد از جلال قـدر اوشد کـامـگار
ملك محمودی و دین احمدی را زیب و فـر
ظل حق بهرام شاه خورشید ملت انکه هست
تار عنقش نور لطفش دل فروزجـان شکر

عوفی هغه کتاب چه د (بزم آرای فخری) په نوم دشعر په ډول ډول فنونو کښې لیکلی شویدی دده بولی .

روحانی غزنوی : ابوبکر بن محمد بن علـی الروحانـی دغزنویانو دشاعرانو څخه په تیره بیا دبهرام شاه د وخت دی . درشیدی سمرقندی شاگرد دی ، د زیږیدنې او مړینې نیټه ئی نده معلومه داځو بیتونه ده ویلې دی :

ای بنا گوش تو داده ماه را نورو صفا
سر مشکین طرهٔ من گـلبن سیمین قفا
هست نقاش از هوای روی تو دست بهار
گشت عطار از کمند زلف تو بـاد صبا

آسمانی بهر آن سیما بگون بندی کمر
آفتابی بهر آن زنگار گون پوشی قبا
تا ترا روی‌چو خورشید اسمارا عار نیست
همچو نیلو فر درآب دیده کردن آشنا

مسعودالنوکی : دسلطان بهرام شاه غزنوی د مداحانوڅخه بل‌مختارالشعرا مسعودالنوکی دی چه دده په صفت کښی غوره قصیدې لری واڅو بیتونه دهغې قصیدې دی چه د سلطان بهرام شاه په‌صفت کښی ئې ویلې ده .

ماه اگر نظارهٔ آن شمع خوبان ایستد
چون شود پیدا رخش ازشرم پنهان ایستد
دل‌زچوگان‌دوزلفش زان نیاساید که گوی
کم بودساکن که پیش زخم‌چوگان ایستد
پیش‌چشمش دستهٔ نرگس بخدمت ایستاده
درچمن چون پیش لاله سرو بستان ایستد

مظفری پنجدهی : نوم او کنیت یې ندی معلوم ، تخلص یې مظفری دی اوپه پنجدهی کښې زیږید لی دی او د آل ناصر دشاعرانو څخه دی، په شعر کښی دلوی لاس خاوند اوداپه خپله وئې نه شرګندیږی چه‌فرهنګ لیکونکولکه اسدطوسی دده له شعرونونه استشهاد کړیدی د پنجده په صفت کښی دغه رباعی دده ده :

بهفت کشور تامدح پنجده گویم
چویاد گشتم اندر زمی زمی پیمای
دوپای دارم‌چهار دگر بباید ازآن
بهفت کشور نتوان رسید بی‌شش‌پای

محسن فراهی : دی هم دآل ناصر دشاعرانو څخه دی دزیږیدنې ځای یې قزوین او فراه ډولی دده په باره کښې غیرله دینه نور معلومات لاس ته نه ندی را غلی دا اشعار دده دی :

آتشی دیدی که باشدش آب نقاب
ایمن شده از آتش و آتش ازآب
بنگرتو بدین شراب و این‌جام شراب
تا آب فشرده بینی و آتش ناب

ابو منصور هروی : ابو منصور عبدالرشید بن احمد بن‌ابی یوسف‌الهروی دآل سبکتګین د شاعرانو او دهرات دمخورو څخه دی دا لاندې مطلع او رباعی دده ده .

مطلع :

ای قمر چهر عطار د فکر ناهید اتصال
شمس فربهرام کین برجیس‌اثر کیوان‌جلال

رباعی :

گفتم که چه دارد علمت گفت قمر
گفتم که چه بارد قلمت گفت گهر
گفتم که‌چه بارد حشمت گفت ظفر
گفتم که کار دکرمت گفت خطر

پروردہ یا اوارهٔ بلخی : ابو عبدالله بن محمدالمعروف پروورده په ختیه دبلخ دی دآل سبکتګین په‌وخت کښی ژوندی و، له دې زیات دده نور احوال لاس ته ندی را غلی دادوه بیتونه دده دی .

گر برکشم این فروشده پای از گل
هرگز ندهم به هیچ نامردم دل
بیخوابی را بدیده بر بستم
وز دیدن خواب بی هوده ر ستم

ابوالمظفر پنجشیری : ابوالمظفر بن ابراهیم بن علی‌دی . عوفی دی دآل سبکتګین د لویو شاعرا نو څخه ګڼی، دزیږیدنې اومړنې نیټه ئی نده معلومه دابیت دده دی :

لبش خسته‌زوهم بوس‌هرکس تولب‌دیدی زوهم‌بوس‌خسته

صائغ هروی : ابوالحامد محمود بن عمرالجوهری الصائغ هروی دعوفی په‌وینادسلطان فرخزاد غزنوی ددربار شاعرانو څخه دی . ځینو صالح هروی بللی‌دی دچهار مقالې نظامی عروضی خاوند د خپل اثر ددویمې مقالې په‌مقدمه کښی هروی دآل خاقان دشعرا و څخه بولی خو هغه شی چه منل شوی اوښکاره دی دادی‌چه‌هروی د فرخزاد غزنوی دوخت شاعردی بلکه چه دا ادعادده دهغې (۳۷) بیتی قصیدې څخه ښکاره ده چه دفرخزاد په صفت کښی ئې ویلې ده اونه ئی پلاس کښی لرو . دی په مدحه کښی دقصیدې په یوبیت کښی وایی :

ملك تاج ملوك عصر فرخزاد فرخ پی
که بخشد نعمت‌قارون ودارد قوت قارون

په هرحال صائغ د فارسی ژبې دلوړو اومقتدرو شاعرانو څخه دی داڅو بیتونه دده دهغې قصیدې څخه انتخاب شویدی :

الا یاچرخ گون خر من بگنج گوهر آبستن
زنور پاك داری دل ز دود تار داری تن
چوریزد آبت ازمژگان بدوزی دامن خفتان
چو بینی آتش اندر دل برای پیش پیرا هن
کنی‌درآستین مرجان‌نهی دربادبان لوء لوء
ببارى بر بر از عنبر کنی دامن ترا زلادن
زتبت کاروان‌آری شوی دردشت مشك‌افشان
زششتر قافله گیری شوی در کوه هیبا فن

سراجی خراسانی : سراجی دسراج‌الدوله خسرو دغزنوی دپاچا ددربار دشاعرا نو څخه دی نوم ئی جمال‌الدین محمد بن علی، لقب ئی فخرالشعرا، تخلص ئی سراجی دی . سراجی په شعر کښی د لوئی لاس خاوند دی پاخه او قوی اشعار دده نه یادګار پاتې دی داځو بیتونه ئی دشپې پـه ستا ینـه کښې لیکلی دی :

چون خواست‌روی خویش نمود ازحجاب شب
بـر روی روز بست زظـلمت نقـاب شـب
سیمـر غ آفتاب چـو افـتاد در غـرو ب
نـا گاه طـلوع کـرد چـو پر غراب شب
بـا لشکر نـجوم بـر آمـد ز بـا ختـر
نـاچخ زماه سـاختـه رمـح از شهـاب شب
گوئی کـه عرض کرد همی بهر جنگ روز
در صحن آ سمـان سیه آ فتـاب شب

ابی‌الفتح هروی : دغزنوی خسرو پاچا دزمانې دشاعرانو څخه بل ابی‌الفتح هروی دی د عوفی دیا دولو له مخې نوم ئی عبدالرافع بن ابی‌الفتح او ضیاءالدین دی دده په خـوا و شـا کښې له دینه زیات معلومـات لاس ته ندی را غلی دابیتو نه دهغه دی :

شاه فلك ز تخت شرف بار میـد هد
گـل همچو نو عروسی دیدار میدهد
سروان‌چوسروران حشم صف‌همیکشند
دریـا بـابر لـوء لوء شهـوار میدهد
هر گوهر نفیس که‌در کـان‌نهـاده بود
خور شید بـاد صبح بـگلزار میدهد

یوسف غزنوی : یوسف بن‌نصر لیکونکی د مجمع‌الفصحا (ص٦٥٦ ج‌اول) دخاوند په‌وینا دملك‌خسرو د غزنویانو دلړی اخرنی باچا دزمانی د لوی‌شاعرانو اوفضلاؤ څخه‌و . په عربی اوفارسی کښی دوه دیوانونه‌لری داځو بیتونه دده دیوې قصیدې نه‌انتخاب شویدی :

زماه آن دورخ لعل‌است درسیب زنخدانش
زجام آن‌دولب مستی است درزلف‌پریشانش
دل هر شود بختی راکه باید رنج زهر غم
شفا باشد ازآن‌شکر که‌هست اندرنمکدانش
شود پرسنبل و سوسن بود پرضیمیران و گل
گنار مر دم دیده ز روی همچو بوستانش

دادوه بیته هم دده دیوې بلی‌قصیدې څخه‌دی :

آن‌ماه مشك‌طره و آن سرو کشخرام
برمن بسا غری غم دل را کند حرام
روشن شود چو روز شب تیره فام‌من
چون او بیزم جلوه کند آفتاب فام

خسروی : شیخ العمید جمال‌الدین ابوبکر بن‌المساعد ،چه لقب‌ئی فخر الشعرادی ، دملك خسرو غزنوی د دربار دمخورو اومقربو شاعرانو څخه و اوځو موده د معز الدنیا والدین په دربار کښی هم‌و. داځو بیتونه دده دیوې غزلی دی :

تاچند پیش تیر غمت دل سپر کـنم
در عشق نام‌خویش بگیتی سمر کنم
از بیم ناوك مـژه و تیر غمزه ات
گاهی کمان زپشت گه ازدل سپر کنم
گاه ازهوای لعل تو از دیده در کشم
گاه برامید سیم تو ازچهره زر کنم

معزی‌غزنوی : د مجمع‌الفصحا خاوند د(اول‌ج په٥١٠ ص) کښی دده نوم سیدالدین‌ښودلی‌دی اودملك خسرو سراج‌الدوله دمداحانو څخه ئی‌بولی‌گ هدایت په ویلو سره سم عوفی دهغه دیوان‌لیدلی‌دی اوددده رشك ارت‌نگ مانوی‌یی‌لوستلی دی . دا څلور بیتونه په‌مجمع‌الفصحا کښی‌دهغه په نوم راوړل شویدی .

زرشك کرتهٔ‌تنگت چه‌گویم تاچه‌دل‌تنگم
که بی‌مهرو و فاداری درآغوشت چرا باشد
قبای‌ساده میپوشی که خون گرید همی‌چشمم
که‌باری کیست آنصورت که‌همرنگ‌قباباشد
خطا گفتم صواب آمد قبا باچین و باصورت
نگاری را که‌او رشك بت چین وختا باشد .
زتو گر بوسهٔ خواهم بجان نفروشی و گوئی
توکی دیدی که‌بوس چنین ارزان بها باشد

نصیر الدین عبد الحمید : دی د خسرو ملك بن بهرام شاه غزنوی دوزیرانو څخه و. هدایت د مجمع‌الفصحا خاوند لیکلی دی چه‌ده (نصیرالدین عبدالحمید) کلیله دمنه دعربی نه په‌فارسی ترجمه کړی اوهغه‌یې ډیره خوښه کړیده عبد الحمید څه موده بندی شویدی اوپه‌اخیر کښی ووژل‌شو ، په‌شعر کښی داستاذی لحای لری دادوه رباعی دهغه دی :

ایشاه مکن آنچه بیر سند از تو
روزی کـه بدانی که نترسند ازتو
خورسند نهٔ‌بملك و دولت ز خدای
من‌چون باشم به‌بند خورسندازتو

دالاندی رباعی ئی‌دخیل قتل په‌وخت کښی ویلې‌ده :

از مسندعزاگرچه‌ناگاه رفتیم حمدالله که‌نیك آگه رفتیم
رفتندوشدندونیزخواهندشدن مانیز تو کلمه علی الله رفتیم

دسلجوقیانو په‌زمانه کښې ادبیات : دسلطان‌محمود غزنوی دمرګ‌نه وروسته د هجری قمری په (٤٣١) کال کښی طغرل

دسلجوقیانو دکورنیو دلږ لمړی‌تن په نیشاپور کښی د باچاهی اعلان‌وکړ مسعود دسلطان محمود ځوی دهغه دما تولو د پاره لښکر ولېږه خوبری ئې ونکړ شو چه دهجری په (٤٣١) کال په‌خپله‌سره دډېر لښکره هغه لورته ډوخولخید مگر دطغرل له‌پلو څخه ئې ماتې‌وکړه اوغزنی‌ته‌راغی . دا پېښه دمیلادی‌په (١٠٤٠) کال کښی شویده چه‌دآل‌ناصر سرنوشت ئې‌وتاکه اود سلجوقیانو بری ئی په‌ټول خراسان کښی اعلام کړ .

سلجوقیان دترکانو یوه‌پښه وه‌چه په‌ماوراءالنهر او دهغه په خواوشا کښی‌ئی ژوندون کاوه ، ددی کورنۍ مؤسس سلجوق ددقاق‌ځوی‌دی . سلجوق دری‌ځامن درلودل. اسرائیل،میکائیل، موسی، داکورنۍ دسلطان محمود غزنوی په‌زمانه کښی دآمو دسند نه را پورې وته او د خراسان په ورشوګانو کښی ئې استوګنه غوره کړه ،دمحمود امراؤ او ګماشتګانو دآل‌سلجوق له‌سره‌یو له ډېروالی اوزډور توب نه‌ویره درلودله ، دخراسان سرحدونه دهغوی په رانګ راضی او خوښ نه‌وو . او دهغوی مو جودیت او نژدیکت ئی له غزنی دسلطنت د پاره یو لوی خطر ګانه. محمود دسلجوق یوزوی دملاقات دپاره خپل در بار ته‌را وغوښت . اسرائیل چه په‌ټولو کښی‌مشرو د خپلو یو شمیر کسانو سره د محمود دربار خواته روان‌شو ، دغزنی سلطان اسرائیل بندی کړ، اوهند ته‌ئی واستاوه ،اسرائیل په دغه ځای کښی له‌اوو کلونو بندنه وروسته مړشو .

دغزنوی پادشا هانو سره دسلجو قیانو مخالفت له همدغه ځایی‌نه شروع شوی‌دی ، او دانتقام اخستلو په تکل کښی شول تردې‌چه طغرل دمیکائیل‌زوی لکه چه دمخه وویل‌شول داقتدار خاوندشو ، اود(مرو) په شاوخوا کښی دآل سلجوقیانو او آل محمود ترمنځ‌جګړه‌ونښتله چه په‌نتیجه کښی مسعود دمحمود زوی ماتی‌وکړه او دغزنی خوانه بهر ته راوګرځید ، د دوی ډېری او قیمتی ذخیری اوشتمنۍ اوثروت دخراسان دغربی او شمالی ولایاتو سره دسلجوقیانو په‌لاس ور غلل .

طغرل دد غه مو فقیت نه ورو سته خپل ورور (چغری) ئی دخراسان په حکومت مقرر کړ او پخپله‌ئی په‌یوه سلسله لښکر کشی او نور و فتوحاتو لاس پوری کړ ، ګرګان،طبرستان، خوارزم اوآذربایجان ئی پخپل حکومت پوری و تړل ، اوپه (١٠٥٥میلادی) کښی‌ئی بغداد دعباسی خلفاوو پای تخت اوشه لبزوروسته ئی کرمان اوفارس پخپله قبضه کښی راوستل ، اوپه دغه‌ترتیب ئی بوداسی سلطنت جوړ کړ چه‌داسلام له ابتدا څخه تردغه‌وخته پوری خراسان دومره پراختیااوپلنوالی نه ډ‌پیدا کړی نه‌ډ‌چغری‌په ٤٥٣ هجری قمری کال او طغرل له ده‌نه یوکال ورو سته وفات شو .

دطغرل له مرګ نه وروسته دده دتره زوی الپ ارسلان سلطنت ته‌ورسید ،ده دماوراء النهر ،ګرجستان، او دار منستان یوه‌برخه‌چه‌دشرقی‌روم‌تابع‌وه پخپله قبضه کښی راو ستله .

دالپ‌ارسلان له‌مرګ‌نه ووسته سلجو قی ملکشاه شل کاله په‌فوق العاده قدرت اونفوذ پاچاهی‌وکړه ،دده دحکومت حدود په‌غرب کښی دمدیترانی دسیندله‌سواحلونه‌دچین د امپراطوری ترسرحدونو پوری اوزدوالی درلود .

دسلجوقیانو په‌حکومت کښی دوه‌ممتازې دورې‌لیدلې کیږی یوه‌دهغو کسانو داقتدار اوقوت دوره ده چه دسلجوقی طغرل ، الپ‌ارسلان اودملکشاه دپاچاهی زمانه ده.دغه دریۍ‌تنه سلجوقی پادشاهان په‌خراسان کښی‌وو، او دعلم اوادب له‌لویو حامیانو، پالونکو اوروزونکو څخه شمېرل کېدل ،لوی لوی شاعران او فاضلان ئی وروزل ،اوددوی حکومت دخراسان اومنځنۍ‌اسیا دمملکتو په‌ادبی ،فرهنګی اواجتماعی وضعیت باندې ډېر زیات تاثیر پری اینې‌دی .

دسلجوقیانو بله‌دوره هماغه‌ددوی دتیت وپرکوالی اوتشتت دوره شمېرله کیږی چه کرار کرار اوپه‌تدریج‌سره دسلجو قی امراوو او شهزادګانو ترمنځ داختلا فاتو دپیدا کیدو په نتیجه کښی دمرکزی حکومت اقتدار له منځه وځی او حکومت ئی‌په خو برخو ویشل کیږی چه‌په‌لنډ صورت دهغو بیان کوو :

١- دکرمان سلجوقیان (له٤٣٣نه تر٥٦٣ه) پوری: ددغی دوری لوی‌پادشاهان چه د فارسی‌شعر اوادب په تعمیم اوتشویق اودفاضلانو او لیکوانو په روزنه او تربیه کښی ئی‌ډېره سعیه کړې ده جلال الدین ملکشاه او ورورئی طغا تشاه دی ،دوی نه یوازې دادب دبازار په‌رواجولو اوتودولو کښی کوشش وکړ بلکه‌پخپله ئی‌هم‌سلیم‌ذوق اوپښه قریحه لرله ، په‌فارسی ئی شعر وایه، په‌تیره بیا طغانشاه یوشمېرلوی‌لوی شاعران پخپل دربار کښی‌راټول کړی‌ووچه‌په‌ټولو کښی‌مشهورملی‌هروی‌ازرقی‌اوناصر خسرو اوبلخی قبادیانی وو، دغه‌رنګه نورمشهور شاعران‌هم په دغه‌زمانه کښی‌دآذربایجان دحکمرانانو په دربار کښی وروزل شول چه‌په‌هغوی کښی مشهور کسان اسدی طوسی او قطران تبریزی دی :

٢- دعراق‌سلجوقیان (له٥١١نه تر٥٩٠) پوری:ددوی‌دحکومت مرکزعراق ؤ ، ددغی کورنۍ وروستی پاچا دریم طغرل دی چه دتکش خوارزم شاه په‌لاس ووژل شو ، ددغی سلسلی په پادشاهانو کښی یواځی سنجر بن ملکشاه ډېر اهمیت درلود ، سربېره په‌دې چه دشعر اوادبیاتو په رواجولو کښی ئی کوشش کاوه‌پخپله هم شاعرؤ . ډېر لوړلوړ شاعران اولیکوال ئی‌پخپل دربار کښی راجمع کړی وو اوددوی حمایه اوروزنه ئی کوله . دسلطان سنجر دوره د لویو او مهمو فاضلانو او شاعرانو د زیاتو الی په لحاظ د سلجو قیانو په ټولو دورو کښی ممتازه

دوره وه . انوری ، امیر معزی ، ادیب صابر ، او عبد الواسع جبلی دده په دربار کښی روزل شوی کسان دی .

۳- دروم سلجوقیان (٤۷۰- ٦۹۱) ددوی دحکومت مرکز دقونیې ښارؤ ،دوی په کوچنیۍ آسیا کښی دفارسی ادب دخپریدلو اوزواجیدو سبب و شول . هغه وخت چه د مغولو فتنه پیدا شوه قتل وقتال ،لوټ اوغارت ، بی پرسانی زیاته شوه ، علما او نور لوی لوی خلك د مغولو دتهاجم او حملو د لاسه هرې خوا ته تیت وپرك شول ، اوپه همدغه وجه لحینی مشران او لوی کسان لکه شمس تبریزی اومولانای بلخی په روم کښی ددوی در بار ته پناه وروړله او دخپلو صوفیانه عقائدو اومسلك په خپرولو ئی لاس پوری کړ .

٤- دشام سلجوقیان (٤۸۷ - ٥۱۱) : دوی د سور یې په شاؤخوا کښی پاچائی کوله ،ددې کورنیۍ مؤ سس تتش بن الپ ارسلان دی ، ددوی دحکومت مرکز شام ؤ .

هغه وخت چه دسلجوقیانو سلسله په اقتدار راغله اوپه منځنیۍ آسیا کښی ئی یوډېرلوی حکومت جوړ کړ ، لحینی نورې کورنیۍ اوسلسلی هم په همدغه وخت کښی روی کاروی ، لکه دغزنویانو پاتی شوې کورنیۍ (٤۳۲ - ٥۸۳) چه دافغانستان اودهندوستان دشمال غربی خاوری په یوه برخه کښی ئی لاس درلود ،اوپه دوی کښی مشهور پادشاهان غزنوی بهرام شاه او سلطان ابراهیم دی ، دوی هم دشاعرانو اوفاضلانو روزنه اوتربیه کوله ، سنائی ابوالفرج رومی اومسعود سعد ددغو پادشاهانو په لاس روزل شوی کسان دی .

نورو سلسلو هم لکه دماوراءالنهر پاشاهان یاآل افراسیاب په سمرقند کښی ، غوریان چه په ملوك الجبال مشهور وو دافغانستان په جنوب اوسیستان کښی، خوارزم شاهیان په خوارزم کښی اونورو کورنیو دمرکزی آسیا په بیلو بیلو لحایو کښی حکومت کاوه اودسلجوقیانو سره معاصر وو چه ددوی څخه د هریو احوال به دشاعرانو اولیکوالو سره پخپل لحای کښی بیان شی دغه دی په فارسی ادبیاتو باندی ددغه عصر تاثیر مطالعه کوو .

دفارسی ادبیاتو په تاریخ کښی دسلجوقیانو د سلسلی اهمیت له پخوا نیو زیات دی ،لحکه چه فارسی ادبیاتو ددوی په زمانه کښی نور نضج او رونق موندلی او دهغوی په کالبد کښی ئی نوی روح پوکړی اولوی او پیاوړی شاعران او لیکوال میدان ته راووتل ، اوله لحا نونو څخه ئی ادبی او تاریخی دائمی آثار دیادګار په ډول پرېښودل ، دغه دشعر او ادب دبازار رواجیدل دسلجوقی پادشاهانو د حمایی او تشویق په اثر دی چه ددوی دحکومتو مرکزونه د شاعرانو اولیکوالو دټولنی اوجمع کېدو لحایؤ . دوی نه یوالحی د شعراوو اوفضلاوو حمایت کاوه بلکه پخپله هم دملکشاه اوسنجر په شان پوهان او فاضلان وو، اوهم ئی لائق اوعلم پالونکی وزیران لرل چه له دې جملې نه عمیدالملك کندری اونظام الملك طوسی پکښی مشهوردی چه دفضل، پوهی او فرهنګ خاوندان وو . عمیدالملك د فارسی ژبی سره ډېره علاقه درلوده ، اوپه دغه لحاظ ئی د فارسی پو هانو او شعرا ؤ حمایت کاوه او تشویق به ئی ورکاوه ، نظام الملك طوسی به دعربی پوهانو او لیکوالو تربیه کوله او ترغیب او تشویق به ئی ورکاوه لحکه چه دعربی ژبی سره یې خاصه علاقه اومینه لرله، اودغه ددې سبب وګرځید چه په بلخ، نیشاپور، طوس ، هرات، اصفهان اوپه نورو لحایو کښی لویې لویې مدرسې جوړې کړی چه په نظامیه مشهورې دی، نظام الملك دادب په رواجولو اوعامولو کښی ډېر زیار وایست .

دمغربی لحمکو د لیکوالو څخه یولیکوال (ویزلال) په هغه کتاب کښی چه د فارسی ادبیاتو دتاریخ په نامه ئی لیکلی دی وائی چه : (دسلجوقیانو دوړې فارسی ژبې ډېرې لوړې درجې ته ورسوله اوهغه ئی دنیا دمشهو رو ژبو په قطار کښی وشمېرله ) .

ددغه کار علت ښکاره او واضح دی لحکه چه دعربو زوال اودخراسانیانو روی کار کېدو او دصفاریانو، سامانیانو او دغزنویانو پرله پسې اواوزدو حکومتو دفارسی ژبانانو دپاره دفارسی ژبی درشد اونشوؤنما فرصت برابر کړ، اوپه سلجوقی زمانه کښی ئی ډېره ترقی وکړه، دغی ترقی په فارسی شعراوادب کښی یوعجیب تحول راووست اویونوی رونق ئی ورکړ . هغه تصوف چه په درېمه هجری پېړۍ کښی ئی په اسلام کښی نفوذ کری ؤ له پنځمی هجری پېړۍ نه په ادبیاتو کښی داخل شو ، اوشعر ته ئی یوبل نوی رنګ اورونق ورکړ . هغو ادبیاتو چه څومودې پخوا ئی یعنی دسامانیانواوغزنویانو په دوره کښی بل اسلوب اوطرز درلود له دغی زمانې نه را وروسته دلحان د پاره نوې لاره پرانیتله او په نوې جامه کښی میدان ته را ووتل .

مدح اوهجو په دغه دوره کښی خپل معراج ته ورسېدل، شعرا ؤ د ممدوح په مدح کښی له مبالغې او اغراق نه کارواخست ظهیر فاریابی چه ددغه سبك له پیش آهنګا نو څخه شمېرل کېږی دممدوح در کاب دښکولولو دپاره(۹) کرسی اسمانونه داندیښنې ترپښو لا ندې ږدی او وائی :

نه کرسی فلك نهد اندیشه زیر پای
تابوسه بر رکاب قزل ارسلان دهد

دغه رنګه هجو چه پخوا په فارسی شعر کښی کمه لېدل کېدله په دغه دوره کښی زیاته شوه، سوزنی او انوری په دغه لاره کښی له نورونه سبقت و کړ او دټولو نه مخکښی شول . حتی شاعرانو لحینی و ختونه یودبل په هجو کښی دومره رکیك اوناوړه اشعار ویل چه دقلم ژبه دهغو په بیانولو شرمېږی ،

په‌سنائی‌اومعزی باندی‌دسوزنی‌اعتراضونه اودخاقانی کشمکشونه دخپل استاذ ابوالعلی گنجوی اودده د شاگرد مجیرالدین بیلقانی اودهغه دمعاصرشاعر رشیدالدین و طواط اوداسی نورو سره مشهور اوټولوته معلوم‌دی چه‌دنمونی په‌ډول د مجیرالدین بیلقانی ذم اوهجود دښمنانو په‌باب کښی اودده د استاد تعریض لاندی بیا نوو :

طبع‌من کانست ودل دریا واین بید ولتان
چون کف دریا همه‌تردامن‌وخس پرورند
چون غرابندار چه سرتاسرزبان چون بلبلند
هم غلافندار چه‌لب تالب‌دهان چون خنجرند
لعبت آسا از برونسوزد درون‌سو مرده اند
لاجرم تصحیف لعبت را چوکافر درخورند
دین ابراهیمشان دردیده مسما راست ازآنك
هم درو گر هم دروغ آور بسان آزرند
تیر من آه سحرگاهست وتیغ من زبان
بشکنم صفشان بتیغ وتیر اگر صد لشکرند
همچو موران ازپی قلم کمربستند وباز
ریزه های خوان طبع‌من چوموران میخورند

لنډه داچه دغه‌ټول تحول اوتغیر ، چه په فارسی شعر کښی پیداشو اوهغه خراسانی سبك ته یې چه یخوا په‌شاعرانو کښی مروج‌ؤ یونوی رنگ‌اورونق ورکړ، د فارسی ادبیاتو په‌تاریخ کښې په عراقی سبك مشهوردی چه مونږ دهغه د څرنگوالی بیان کوو :

عراقی سبك : دغه سبك د پنځمی پیړۍ له نیمائی (دسلجوقیانوله زمانی) څخه میدان ته را وتلی دی او دنهمې هجری پیړۍ تر آخرو وختو پوری دوام کوی، که‌څه‌هم ددغه سبك پوخوالی اواستواری په فارسی شعر کښی بنکاره‌ده خو یخوانۍ ساده‌گی اوروانی‌ئی نه‌درلوده ، عربی لغاتودشاعرانو په اشعارو کښی ډېره لاره پیدا کړه، هغه استعاری ، کنایی اوتشبیهات چه یخوا ډېرساده، طبیعی اوحسی وو په د غه دوره کښی ډېر غامض اوپیچلی شوی اوذهنی‌اوعقلی گرځی د شعراؤ توجه دقصیدو جوړولوته کمه شوه، غزلو و یلو او جوړولو خاص اهمیت پیدا کړ، شعری صنائع چه په‌خراسانی سبك کښی محدوده وو په‌دغه دوره کښې ډېرشول او مشکل وگرځیدل په تېره بیالفظی صنائعوډېر ارزښت پیدا کړ لکه چه ددغی زمانې شعراؤ لکه قطران تبریزی اوامیرمعزی دتمامی‌مطلع د قصیدو په جوړلو پیل وکړ اوهم لحینو شاعرانو دالتزام صنعت ته ، چه دقصیدو په مصرع یافرد کښی یوبادوه لفظونه تکرار و یل کېږی، ډېر رونق ورکړ، لکه عمعق بخاری او ادیب صابر ترمذی چه دنمونی دپاره لازم‌دی دمعزی دتمامی مطلع له قصیدی څخه هوفردونه اودغه رنگه دعمعق او ادیب صابر له قصیدونه هوبیتونه دالتزام په صنعت کښې ذکر کوو :

دمعزی دتمامی مطلع له قصیدی نه‌هوبیتونه چه ټول(۲۱) فرده دی :

همی‌جویم نگاری را که‌دارم چون‌دل و جانش
همی خواهم که یکساعت توانم دید آسانش
اگر پیمان کند بامن منم در خط پیمانش
وگر فرمان دهد برمن منم دربند فرمانش
نهاد اندر سرم ابری که پیدا نیست بارانش
نهادا‌ندر دلم‌دردی که پیدا نیست درمانش
چووصلش‌من همی‌خواهم چوگردم گزدهجرانش
که پیدا گشت پنهانم زبس پیدا وپنهانش

دعمعق بخارائی له‌قصیدی‌څخه دغه هوبیتونه چه دمور او موی لفظ یې په‌هره‌مصرع کښی التزام کړی‌دی انتخاب شول :

اگرموری‌سخن‌گوید وگرموئی روان دارد
من‌آن‌مورسخنگویم‌من‌آن‌مویم که‌جان دارد
اگربامور و باموئی شبان روزی شوم همره
نه‌مور ازمن خبریابد نه‌موی ازمن نشان‌دارد
من‌آن مورم که اززاری مرا موئی بیوشاند
من‌آن‌مویم که‌ازسستی گم ازموری‌توان‌دارد
منم‌چون مورازاندوه و ازهرموی‌خون‌افشان
نه‌موئی کوگره‌گیرد نه‌موری کوروان‌دارد

صابرادیب دخپلی‌یوې قصیدې په‌تغزل کښی په هربیت کښی سرواویاقوت چه پخپل منځ کښی هېڅ مناسبت نه‌لری التزام کړی‌دی اومطلع ئی داده :

سرو سیمینی وسیمین سرو را یاقوت بار
جزع من بی سیم وبی یاقوت تو یاقوت بار

دعربی‌مصرعو تضمین چه‌پخوا چندانې معمول‌نه‌ؤ په‌دغه‌دوره کښی‌ئی ډېررونق پیدا کړی اوملمع اشعارئی میدان‌ته‌راایستلی دی اخلاقی اودینی اشعارخپاره‌شول اوډېری‌قصیدې‌ددنیا په‌بدی‌ې اودآخرت په‌ښه‌والی کښی وویل شوې دشعراقسام زیات شول ، اوترکیب بندچه په‌فارسی ادبیاتو کښی موجودنه‌ؤ په دغه دوره کښی‌منځ‌ته‌راغی او دغه‌رنگه رباعی ویل ددې دورې په نیمائی کښی‌مخ په زیاتوالی شول په‌تېره‌بیا دابوسعید ابوالخیرتصوفی اوعرفانی رباعیات او دحکیم عمرخیام فلسفی اوحکمی‌رباعیات دراتلونکو خلکو سرمشق وگرځید . ددې‌دورې له‌نورومهمو خصوصیاتوخخه دشاعرمهارت‌دی دشعرله اقسامونه په یوقسم کښی‌لکه انوری ظهیر فاریابی خاقانی په‌قصیده کښی‌اوابوسعید ابوالخیربابا طاهرعریان او خیام په‌رباعی کښی،اوعرافی،سعدی اوحافظ په‌غزل‌کښی ، نظامی اومولانای روم په‌مثنوی کښی

کمال‌الدین اوجمال‌الدین اصفهانی په‌ترجیع او ترکیب‌بند کښی ابن یمینی فریوندی په‌قطعه کښی ډېرشهرت لری سر بېره په‌دې علمی اوفلسفی اصطلاحات زیات شوی اوفلسفی شعر ډېر رواج پیداکړ، اوفلسفی افکارو دشاعرانو په شعرکښی ډېره لاره پیداکړه که څه هم بیخی انکارنشو کولی چه فلسفی اشعار په‌ښوانیودورو کښی موجودنه‌وو بلکه داسی شاعران لکه فردوسی اوسنائی‌هم موجودوو چه‌فلسفی مذهبی او اخلاقی‌اشعار ئی‌هم‌ویل مګر اساسا ناصر خسرو قبادیانی بلخی باید د فلسفی اواخلاقی شعربانی اوشمېرل‌شی ځکه‌چه‌ناصر خسرو هغه لومړی شاعردی چه‌شعرئی دتاکلی عقیدې دپاره په‌کار کړ اوهمدغه جهت دی‌چه دناصرخسرو ددیوان فلسفی اومذهبی جنبه په‌شعری جنبه باندی‌درنه‌ده دغه‌رنګه‌دی‌دحکیم‌عمرخیام‌رباعیات‌چه‌دشرق‌اوغرب علماواوفلاسفه‌ده‌رباعیات دفکر اوفلسفی په لحاظ مطالعه کوی نه‌دشعری اوادبی نقطی نظره‌څخه ، او هم تردغه زمانې پورې هرځومره شرح اوبیان چه‌دخیام په رباعیاتو لیکل شوی‌دی ټول دفلسفی اوعلمی نقطی نظره‌څخه تحلیل‌او تجزیه‌شوی دی نه‌دشعر اوشاعری‌ له‌نظره‌څخه نو په‌مطلق‌ډول‌دفلسفی‌شعرروا‌ج دعراقی سبك‌له‌خصوصیاتوڅخه بلل کېدلی‌شی . ددغی‌دورې له‌نورومهمو خصوصیاتوڅخه دتصوف نفوذدی په‌فارسی ادب کښی چه‌له‌پنځمی هجری‌قمری پیړۍ نه‌شروع شوی اوپه شپږمه پیړۍ کښی ئی پراختیا موندلی اوله اوومې پیړۍ نه‌راوروسته په ډېر قوت اواقتدار کښی ظاهرشو، لوی‌لوی متصوفین پیداشول ، نوی‌طرز تفکر اوبکر اونوی خیالات‌ئی روی‌کار کړل ، شعر ته ئی چه دپیدایښت له‌ابتدائه تردغی زمانې‌پورې‌ئی اختصاصی جنبه‌درلوده پراختیاورکړه اوخپل‌افکار اواعتقادات ئی په‌آزادانه ډول‌دشعر په‌قالب کښی واچول .شعرپخوا دفکر په لحاظ ساده اومحدودو اوشاعرانو خپل مقصدچه د پادشاهانو دربار خاصه‌وه ، په‌ساده ګې اوفکری محدودیت سره بیاناوه ، ځکه چه دوی دربار له‌کار کوونکو اوتشریفاتی مظاهروڅخه شمېرل کېدل اوددوی کاردهغه‌وخت دپادشاهانو دافعالو او کارونو ستاینه اوتمجید اومداحی وه ددوی اشعار به دربار یانو دافعالو د کوائفو اوددربار په‌مدارځرخېدل ، مګر هغه وخت چه تصوف په‌ادبیاتو کښی پیداشونو شعر اوشاعری‌بل رنګ پیداکړ ؛ ځکه‌هغه کسان چه‌دتصوف اوعرفان په شرابومست اوبی‌خود ووله‌انقیاد نه‌ئی‌ځان ژغوره اوممکنه‌نه‌وه چه‌دچاتراحسان‌لاندی‌راشی‌همدغه جهت‌دی‌چه‌پخپلوافکارواواحساساتو کښی ډوب وو او خپل نفسی استقلال‌ئی ساته‌اوخپله‌قریحه اوقلم‌ئی دجاه طلبوانو ځان پرورو حاکمانو په‌اختیار کښی نه‌اچول؛ دغه‌وخت‌دی‌چه‌شاعرځان‌اوخپلې جامعې‌ته‌متوجه‌شوی اونوی‌او تازه‌افکارئی‌پیدا کړل‌اوجامعې‌ته‌ئی وړاندی کړل . په‌شعر کښی ددغه ډول افکارو اوعقائدو پیدا کېدو په‌فارسی ادبیاتو کښی‌نوی اخلاقی‌اواجتماعی نهضت داخل کړ ؛ ګویا په‌فارسی ادبیاتو کښی دتصوف‌مهم تاثیر د افکارو ددائری پراختیا اوپوخوالی‌دی . دتصوف دنورو لویو تاثیراتو څخه دسلحشوری‌ دحس زائلېدل اولیری کېدل اود مسالمت ، صلحی اوصفا دروح غلبه‌ده ،لکه چه‌د تصوف دسلطی نه‌پخوا په شاعرانو کښی دعسکری‌ او سلحشوری‌ حس تر دې اندازی پوری قوی اومعمول ووچه دمعشوق اندامونه اوغړئی‌ئی دحربی آلاتو اوادواتو سره مشابه‌کول، دغه‌رنګه که‌چېری ئی‌غوښتل چه‌دپسرلی په‌صفت کښی‌یوه قصیده جوړه کړی نواشباه ئی‌درزم په صورت بیانول یعنی په عمومی صورت که چېری کوم عشقی اوتوصیفی شعر یامضمون به‌ئی وایه نوهغه به‌هم‌تردې اندازی پوری د مبارزې غو ښتلو اود رزم آرائی اصطلاحات وو ، چه لووستونکو به‌داسی تصور کاوه ، چه شاعر د جګړی مقدمات راټول کړی‌دی ، لکه چه‌زینتی‌علوی په‌هغه‌ځای کښی‌چه سلطان محمود دبزم دمجلس جوړولو ته‌ترغیب کوی داسی وایی :

| | |
|---|---|
| ایخدا و ند آن قبا ی سیاه | مطربان‌رابخوان وباده بخواه |
| تابدان لعل‌می فر وشو ئیم | کا مها راز گردو خشکی راه |
| پس‌جوان مرد ورا برسازیم | مجلسی پر نهنگ وشیر سیاه |
| میسره مطربان‌خوش سازیم | میمنه د و ستان بس د لخواه |
| علم ازساقیان بیای کنیم | تار منجوقها ز زلف سیاه |
| غم گربزدز پیش‌ما چو نانك | خان و قیصر ز رزم شاهنشاه |
| خسرو خسروان ملك‌محمود | ملت و ملك را همیشه پناه |

خود تصوف له‌ظهور اوځر ګندیدو څخه ورو سته درزم‌او مبارزی دغه ژبه دعشق اومحبت، ګل‌وبلبل په ژبه بدله شوې‌ده، په‌داسی ډول چه‌رزمی اود جګړی موضوعات‌یی په‌داسی عبارتو اوداسی الفاظو سره چه‌ډېر به‌له بزم اودعشق‌اوصفا له‌مجلس‌سره مناسب وو ادا کړی‌دی ،لکه چه‌سعدی چه‌غوښتل یې‌چه‌دبوستان په پنځم‌باب کی دفردوسی دخبرو په‌تقلید درزم‌مجلس جوړ کړی دهغه په‌عوض کښی یی دبزم مجلس‌جوړ کړی‌دی ، ګواکی لکه څنګه چه‌ښایی دغه کاریی هغسې‌پای‌ته نه‌دی رسولی ، اود محیط اوزمانی له‌ایجاباتو اوغوښتنوڅخه یې‌ډډه نه‌ده کړی . اوددغی دورې له ځر ګندو ممیزاتو څخه‌بل په شعر کښی دتاریخ دمادې الحاق‌دی لکه چه‌داډول‌شعر په‌پخوانو دورو کښی یعنی په‌خراسانی سبك کښی په‌ندرت‌موندل کېږی . دځینوشاعرانو په کلام کښی که‌ولیدل شی هغه‌ددی تاریخ ماده‌ده . چه‌په حسابی صورت‌سره ذکر شوې‌ده ، لکه چه کسائی مروزی ، چه‌دسامانی دورې‌له شاعرانو څخه‌و ، دخپلې زوکړې تاریخ داسی بیان کړی‌دی:

به سه‌صدو نود ویك رسید نوبت‌سال
چهار شنبه و سه روز باقی از شوال

د کسائی په شعر کښی د تاریخ ددې مادې ذکر د عدد او حساب په ډول سره راغلی دی نه دا بجد او جمل په حساب حال دادی چه د تاریخ دمادې داډول لیکنه له شپږمی پیړۍ څخه وروسته د شاعرانو په کلام کښی شایع اوراغلې ده چه کیدای شی هغه د لفظی تاریخ دمادې په نامه یاده شی .

لکه چه انوری اوابیوردی د قصائدو په پای کښی اوابن یمینی فریو مدی په خپلو قطعاتو کښی داکار کړی دی ، او هم حافظ د شیخ ابواسحاق دمرینی په تاریخ کښی (۷۵۷) ویلی دی :

بلبل و سروو سمن ، یاسمن و لاله و گل
هست تاریخ وفات شه مشکین کاکل

ددې ډول تکلفاتو او تصنعاتو څخه گندیدل د عراقی سبك له خصوصیاتو څخه دی ، ساقی نامه چه په فارسی ادبیاتو کښی بی مستقل عنوان پیدا کړ، له دغه عصر څخه شروع شوه او دغه سبك له مختصاتو گڼله کیږی .

ملا عبدالنبی فخرالزمان قزوینی په هغه کتاب کښی چه د ( میخانه) په نامه یی له ساقینامی سره یوځای کړی او دهغه د نظم کیفیت یی سره د شاعرانو له شرح حاله تشریح کړی دی وایی: «نظامی د مرمبنی شاعردی چه ساقی نامه یی منځ ته راوړه » .

گه څه هم د پخوانو شاعرانو په اشعارو کښی خمری او میگساری اشعار زیات لیدل کیږی ،خو هر خمری او بزمی شعر نشی کیدای چه ساقی نامه و بلله شی ، بلکه د ساقی نامی له لوازمو څخه دادی چه اول باید چه ساقی ته خطاب اوشرابو غوښتنه له هغه څخه وی ، دوهم داچه د مثنوی په ډول په متقارب بحر کښی چه وزن بی (فعولن فعولن فعولن فعول ) دی ویل شوی وی ، نود دغو خصوصیاتو له مخی د پخوانو شاعرانو له کلام څخه استشهاد نشی کیدای د ددې سبك نور او روستنی شاعران ، چه د نظامی استقبال یی کړی دی ، امیر خسرو دهلوی ، حافظ شیرازی ، خواجه کرمانی ، جامی هروی او نوردی چه د نمونی په ډول د نظامی له کلام څخه غو بیتونه مثال راوړو:

بیاساقی آن می نشان ده مرا — ازآن داروی بیشان ده مرا
بدان داروی تلخ بیهش کنم — مگرخویشتن را فرامش کنم

دا ؤ د عراقی سبك د خصوصیاتو او ممیزاتو په باب کی یواجمالی نظر اوس دادی د ددې سبك د شاعرانو د حال په بیانولو شروع کوو :

ازرقی هروی : د ده نوم ابو بکر زین الدین بن اسمعیل وراق دی، ازرقی د شمس الدوله طغانشاه دالپ ارسلان دزوی د خراسان د حاکم ستاینه کړې ده ، سربیره پردیوان اوغزلیاتو چه دوه زره بیتونه دی د داستان سنباد نامه یوه برخه یی د طغانشاه په امر نظم کړې ده ، ده دزوکړې اومرینی نیټه په محقق ډول سره نه ده معلومه ، یوالحی دومره څرگندیږی چه از رقسی له ۴۶۵ه ق څخه پخوا وفات شوی دی . دا لاندی رباعی ده ده :

ای شمع که پیش نور دود آوردی
یعنی که خط ارچه خوش نبود آوردی
گر دود دل منست دیرت بگرفت
ورخط بخون مناست زود آوردی

ناصر خسرو بلخی : پخپله دهمده په و ینا :

بگذشت ز هجرت پس سه صد نود چار
بنهاد مرا مادر بر مرکز اغبر

په ۳۹۴ هجری قمری کال د بلخ په قبادان کښی زیږیدلی دی. ده نوم حکیم ناصرخسرو بن حارث اولقب یی ابو معین الدین دی، په لحوانې کښی یی محمود اودهغه زوی مسعود لیدلی دی، وروسته یې بیا دسلجوقیانو په دربار کښی د دیوانی اودبیری منصب لاره . نوموړی زیات سفرونه کړی دی، چه مصر ته تللی دی اودفاطمیانو دربارته ورغلی دی ، او اسمعیلیه مذهب یی منلی دی، ده داشعارو دیوان چه دیرش زره بیتو نه دی ټول له فلسفی اواخلاقی اومذهبی عقائدو څخه ډك ؤ ، خو اوس له یووالس زره څخه زیات بیتونه دهغه لاس ته نه دی راغلی . د نوموړی شاعر نور آثار (سفر نامه، زادالمسا فرین، و جه الدین او روشنائی نامه) دی دالاندی څو بیتونه د زمانې اود آسمان دسفله پرورانو دشکایت په باب کی ده دی :

آزر ده کرد گژدم غربت جگر مرا
گو ئی ز بون نیافت زگیتی مگر مرا
درحال خو یشتن چو همی ژرف بنگرم
صفرا همی بر آید زانده بسر مرا
گویم چرا نشانه تیر ز مانه کرد
چرخ بلند جاهل بیداد گر مرا
گر بر قیاس فضل بگشتی مدار دهر
جز بر مقر ماه نبودی مقر مرا

ناصر خسرو له ۸۷ کالو عمر تیرولو څخه په زیات زحمت اوخواری په ۴۸۱ ه ق کال د بدخشان په یمگان کی له فانی دنیا تیرشو، وایی چه په هغه ځای کښی یی مزار دی .

برهانی : نوم یی عبدالملك او تخلص یی برهانی دی، نوموړی دالپ ارسلان بن ملکشاه سلجوقی د دربار د شاعرانو امیر ؤ. برهانی، د ده زوی امیر معزی په قول، ۵۶ کاله عمر درلود اودملکشاه د سلطنت په اولووختو کښی دهغه د پرتخت کښیناستلو په کال یعنی په ۴۶۵ هجری کښی مړ شوی دی . کله چه پخپله دامیر معزی له بیاناتو څخه څرگندیږی چه برهانی دملکشاه د پرتخت کښیناستلو په وخت کښی خپل زوی (امیرمعزی) باچاته

ورپیژاند اوپخپله دی وفات‌شو . د مونس‌الاحرار په کتاب کښی دقصیدې داتشبیب دبرهانې په‌نوم ذکر شوی دی :

هر آن روزی که با شم در خرا بات
همی نازم چو موسی در منا جات
هرآن روزی که در مستی گزارم
مبا رك بـا شدم ایام سا عات
برای خویشتن بهتر که باشم
نه قر آنی نما ئم من نه طاعات
چو ازبند خو دی آزاد گردم
بر آ سا یم ز تهد ید عبا دات

مولانا اسعد شیون : نوم یی اسعد دی او د بدخشان دجرم په خوستك کښی زېږیدلی دی، او تخلص ئی ( شیون ) دی . په ۴۰۹ کښی زیږیدلی دی او دمړینی تاریخ یې نه دی معلوم په اخیرو وختو کی دملکشاه سلجوقی در بارته ورغلی‌دی . دده دیوان‌چه پخپله‌ئې لیکلی‌او پخپله‌ئې‌مصور کړی‌دی ، دعبدالرحمن خان په زمانه کښی دمیر بابا بیگ له خوا نوموړی امیر ته ور کړ شوی دی . دا لاندی څو بیتونه دده دی چه د ملکشاه سلجوقی په ستاینه کښی یی ویلی دی :

هماست‌سایه فگن فرق سایبان ترا
زمین چو پاگه سریر گهرنشان ترا
زفیض جودتو سر سبز مز ر ع آمال
کرانهٔ نبود لطف بی گران ترا
چوعزم جزم کنی بهر قبضهٔ گیتی
سوای فتح که گیر درهٔ عنان ترا
سیاه بخت ترا ساز نصرت است علم
جهان غلام بود قوهٔ سنان ترا
سیاه بخت نخواهدشدن معین ازآنکه
کند مقا بلهٔ طالع جوان تر را
دگر سری نفرا زد عدوت تا محشر
که تا چشیده سم کله کمان ترا
فتد زنام تو صد لرزه بر دل اعدا
حق بیان چه بود قدرت عیان ترا

امیر معزی : دملکشاه سلجوقی د دربار له‌شاعرانو څخه‌ؤ، نوم ئی محمد بن عبدالملك برهانی دی اوتخلص‌یی معزی‌دی . معزی دسلطان په دربار کښی ملك‌الشعرا ؤ ، دده دیوان دیرش زره بیتو نه لری، چه پرقصیده، غزلو، رباعی ، قطعه ، ترکیب بند او ترجیع بند باندی مشتمل‌دی ، په دې وختو کښی په‌ایران کښی چاپ شوی دی ، نوموړی په ۵۲۰ هجری کی اویا‌په ۵۴۲ هجری کی دسلطان سنجر دغشی ویشتلو په‌اثر ورو سته دلس کاله ناروغتیا څخه مړشوی دی دالاندی بیتونه‌دده دی :

ای ساربان منزل مکن جزدر دیارمن
تایك‌زمان زاری کنم درربع واطلال‌ودمن
ربع‌ازدلم‌پرخون کنم‌خاك‌دمن گلگون کنم
اطلال را جیحون کنم ازآب چشم خویشتن
ازروی یار خر گهی ایوان همی بینم تهی
وزقد آن سر و سهی خا لی همی بینم چمن

دالاندی لطیفه رباعی هم‌دده ده :

گر نور مه رو شنی شمع ترا ست
این‌کاهش واین سوزش من‌بهرچراست
گر شمع توئی مرا چرا باید سو خت
ورماه توئی مرا چرا باید کاست

ادیب صابر : شهاب الدین ادیب صابر بن ادیب اسمعیل په اصل کښی دخراسان دترمذی‌دده دیوان‌خوزی غزلی‌اوښایسته قصیدی لری چه‌دسلطان‌سنجر اوآتسز‌په‌ستاینه کښی‌ویلی‌شویدی وایی چه‌آتسزادیب په‌دې جرم‌چه‌سنجر ته‌به‌یی پټ خبر ونه‌لیږل په۵۴۶ یاپه ۵۴۹ هجری دجیحون په‌اوبو کښی‌غرق کړ .

دا لاندی بیتونه دده دی :

زلفیست ترا که عاشقی زا ید ازو
حسنیست ترا که طبع بکشاید ازو
روئیست ترا که روح بفزاید ازو
دانی که‌مرا چه آ ر زو باید ازو
همه از عشق و زند گا نی عشق
دوست می دا شتم جوا نی را
پیری آ مد و ز و بتر بجهان
د شمنی نیست ز ند گا نی را

عبدالواسع جبلی : نوموړی‌دسلطان‌سنجر ددربار له‌شاعرانو څخه‌ؤ اوغزنوی بهرامشاه‌یی‌هم‌لیدلی‌ؤ،عبدالواسع بن‌عبدالجامع بن عمران بن‌ربیع دی ، نوموړی خپل‌نسب‌حضرت سرورکائنات ته‌رسوی ، اوده د خپل‌عصرددریو نفرو باچاهانو‌سلطان سنجر بهرامشاه غزنوی اوارسلان شاه سلجوقی ، ناحی کړې ده ، دده اصلی‌وطن اودزبیزیدنی‌ځای غرځستان دی له‌هغه‌ځای‌څخه‌هرات ته تللی‌دی بیاغزنی‌ته هم تللی‌دی ، اوپه (۵۵۵ ) هجری کښی وفات شوی دی :

دالاندی بیتونه‌دده دی .

منسوخ شد مروت ومعد وم شدوفا
وزهردو نام‌ماند چو سیمرغ کیمیا
شد راستی خیانت‌وشدزیر کی سفه
شد دوستی عداوت‌وشد مردمی جفا
گشته‌است واژگون همه‌رسمهای‌خلق
زین عالم بی‌بهره و گردون بی وفا

هر عاقلی بزاویهٔ ما نده ممتحن
هر فاضلی بداهیهٔ گشته مبتلا
بایکدیگر کنند همی کبر هر گروه
آگاه نه ئی کزان نتوان یافت کبریا
هرگز بسوی کبر نتابد همی عنان
هر که آیت نخست نخواند زهل اتی
بااین همه که کبر نکوهیده عادتیست
آزاده را همی ز تواضع رسد بلا
آمد نصیب من زهمه مردمان دوچیز
ازدشمنان خصومت واز دوستان ریا

انوری ابیوردی : اوحد الدین محمد بن اسحق ، دخراسان دخاوران ددښت خواته دابیورد په ولایت کښی دبدنه په کلی کښی زیږیدلی دی ، پرمښی بی خاوری تخلص وُ ، بیایی انوری تخلص اینی دی ، نوموړی په شعر ، منطق ، حکمت ، نجوم ، ریاضی اوموسقی کښی مهارت درلوده لکه چه پخپله دی وایی :

منطق وموسقی وحکمت شناسم اند کی
راستی گویم نگویم با نصیب وافرم
وزالهی آنچه تصدیقش کندعقل صریح
گرتوتصدیقش کنی درشرح وسبطش ماهرم
نیستم بیگانه از اعمال و احکام نجوم
ور همی باور نداری رنجه شومن حاضرم

دده دمړینی په باب کښی اختلاف شته ، خو کوم شی چه رښتیا اوحقیقت ته نیزدې دی ، هغه دادی چه د ۵۸۷ هجری په خواوشا کی وفات شوی دی ، دده دیوان دیارلس زره بیتونه لری اوپرقصیده اوغزلو اورباعی اوقطعو باندی مشتمل دی .

دالاندی رباعی دده ده :

تاکی بغم رخ تو خون شوید دل
آزار جفای تو بجان شوید دل
بخشای کز آسمان نمی بارد جان
رحم آراکه از زمین نمی روید دل

ظهیرالدین فاریابی : ابوالفضل ظهیرالدین طاهر بن محمد دنیشاپور دحاکم طغانشاه مداح وُ ، نو موړی دبلخ دفاریاب اودقزل ارسلان او نصرةالدین ابوبکر ، چه د آذربائیجان د اتابکانو له جملې څخه و په کلی کی زیږیدلی دی؛ اوزیات سفرونه یی کړی دی ، اوهی د رشیدی سمرقندی له شاګردانو څخه دی ، په ۵۹۸ هجری به تبریز کښی وفات شو اودشاعرانو په هډیره کی خښ شو ، دده دیوان په هند کی چاپ شوی دی ، خودهغه دغزلیاتو په برخه کی یی دظهیرالدین تفریشی غزلیات دظهیرالدین فاریابی له اشعارو سره ګډ چاپ کړی دی .

دالاندی شو بیتونه دده دیوی قصیدی له تشبیب څخه دی .

چوسنبل توسرازبرگ یاسمین برزد
غمت بریختن خونم آستین برزد
رخ تو از عرق وناز کی بدان ماند
که ابر قطرهٔ باران به یاسمین برزد
چو پیش روی توزلفت حجاب نبره کشید
امیر زنگ توگوئی بشاه چین برزد
دلم بمجلس فضلت رسید و بار نیافت
بتافت روی و برابرو، هزار چین برزد
دمی بوصل توگفتم که شادمان گردم
غم فراق تونا گه سرسراز زمین برزد

کمالی : کمال الکتاب کمالی په شعر کښی شبه مهارت درلود اوپه خط لیکلو کی هم ماهروُ ، دالاندی غزل دزلفو په باب کی دده دی :

زلف نگار گفت که ازقبر چنبرم
شب صورت وشبه صفت ومشك پیکرم
تر کیبم ازشب است وزروز است مرکبم
بالینم از گل است وزلاله است بسترم
یا درمیان ماه بود سال و مه تنم
یا برگران روز بودروزوشب سرم
رخ تیره سر بریده نگونسار ومشکبار
گوئی که نوك خامه دستور کشورم

سلیمان شاه : یوفاضل شاه زاده دی د سلطان سلیمان بن سلطان محمد سلجوق زوی دسترسلطان سنجروراره وُ ، ددولتشاه له ویلو څخه څرګندیږی چه له طغرل بن محمد بن ملکشاه څخه وروسته په تخت کښینا ست سلیمان شاه په آخر کښی دترکانو په لاس کی بندی شو ، اوپه بندی خانه کښی یی دارباعی ویلې ده:

از دست تبه کاری این مشتی اند
در کام حیات ماست چون حنظل فند
ای ایزد بی نیاز آخر میسند
دیوان همه آزاد و سلیمان دربند

طغرل ثانی : دی سلطان د ۵۷۱ - ۵۹۰ هجری کلو په منځ کښی په هرات کښی حکومت کړی دی ، نوموړی په سلجوقیانو کښی په عقل او پوهه کښی بوخاص امتیاز در لود ، نظامی خپله دخسرو اوشیرینی مثنوی دده په نامه اهدا کړې ده نوموړی دسلطان تکش خوارزمی په جګړه کښی ووژل شو لب التواریخ دالاندی ربائی دده په نامه ثبت کړې ده :

دیروز چنان وصال جان افروزی
امروز چنان فراق عالم سوزی

افسوس که در دفتر عمرم ایام
آن‌را روزی شمرده اینرا روزی

خواجه عبداله انصاری: زمونږ د سترو شاعرانو او سترو عارفانو له‌جملی څخه یو تن حضرت خواجه عبدالله انصاریؒ، نوموړی په۳۹۶ هجری کښی دهرات په‌نږار کښی زیږیدلی‌دی نوموړی دالپ ارسلان سلجوقی معاصرؤ دده له مشهورو کتابو څخه په‌عربی کی‌منازوالسائرین اوذم‌الکلام اوانوارالتحقیق دی اوپه پارسی کښی کنزالسالکین اوالهی نامه اوقلندرنامه او محبت‌نامه اونوردی، دده دلیکلو سبك پوره مسجع دی په ٤٨١ هجری کښی وفات شوی دی.

دالاندی رباعی دده دکلام نمونه ده.

درراه خدا درکعبه آمد حاصل
یك کعبهٔ صورت است ویك کعبهٔ‌دل
تا توانی زپارت دلها کن
که افزون زهزار کعبه آمد یکدل

قاضی‌حمیدالدین بلخی: حمیدالدین عمربن‌محمودالمحموددی بلخی‌دفارسی ژبی‌له‌فاضلانو او پوهو شاعرانو څخه دی تذکره لیکونکی له‌دهٔ‌څخه ډیرتالیفات نقل کوی چه ډیر مشهوریی مقامات حمیدی‌دی، پرته له‌مقامات څخه هدایت د مجمع‌الفصحاء دلومړی جلدپه۱۹۷مخ کښی دده نورآثار داسی یادوی و سیلة العفات الی‌اکفی الکفات، چنین‌المسخر الی حفرة المجیر روضة‌الرضافی‌مدح ابی‌رضا قدح‌المعنافی‌مدح‌المعنا، منیة‌الراجی اورسالهٔ استفائه، اوددهٔ‌منظوم آثارسفرنامه مرو، او څینی نور اشعاردی، نوموړی قاضی دانوری معاصرؤ، او هغه بی د بلخ دخلکوله‌قهراوغضب‌څخه ساتلی‌دی، دملك‌الشعراء بهار د لیکنی له‌مخی څرګندیږی چه په (٥٥٩)هجری‌ق مړشوی دی دالاندی بیتونه دمجمع‌الفصحا داول‌ټوك له۱۹۸مخ څخه د نمونی په‌ډول راوړل‌شول:

تا ازستیزه مشك بگلنار برنهاد
عشق‌رخش‌بهردل وجان خاربرنهاد
تیر بلا بدیدهٔ ابدال در نشاند
بار گران بسینهٔ احرار بر نهاد
دل‌رانداشت در ستم بیحساب عشق
پس جرم خودبیخت‌نگونسار برنهاد
صبر ازدلم بغمزهٔ غماز در ربود
و آنگه که‌نظربطرهٔ‌طرار برنهاد
بس‌تائب‌شراب کزان لعل بر خمار
دیده بخاك درگه‌خمار بر نهاد

عبهری‌غزنوی: حکیم عبدالحمیدبی نومؤ اوتخلص‌یی‌عبهری دی دده‌دوفات او مړینی نیټه‌نه‌ده معلومه عبهری دمجمع‌الفصحا په‌قول لکه چه‌مدح اوستاینه کښی ماهرؤ، په‌هجو اوغندنه کولوکښی بی‌هم پوره اوبشپړه مهارت اووس درلود دالاندی څوبیتونه‌دده دی:

تاعشق تودر دلم مهیاست — بردل بدونیك عشق پیداست
تاصبر در صلاح بر بست — اندردل من هزار سود است
تا قافلهٔ وصال بگذشت — اواز فراق دوست برخواست

چاوش‌غوری: دده‌دنامه اوکینه‌اوشرح‌حال اطلاع پوره نشته‌دوغنه څرګنده‌ده چه‌څه‌موده دسنجرپه‌لښکرو کښی دمنصب خاوندؤ داځو بیتونه دده‌دی چه دسلطان سنجر دپاره یی دهغه له‌وراره سلطان‌مسعود سره دجګړی کونو په ترغیب کښی ویلی دی:

خسرواکار زار باید کرد — برعدو کار زار باید کرد
شرزهٔ شیران مرغزاری را — همه درمرغزار باید کرد
ژنده پیلان کار زاری را — همه درکار زار باید کرد
روزجنگ‌است‌جنگ‌باید کرد — روز کار است کار باید کرد

دده‌دزوکړې اومړینی‌تاریخ‌هم نه‌دی معلوم.

بدیع‌الدین اتابك جوینی: نوموړی دیښه فضیلت خاوندډې اوزیات تصنیفونه‌یی کړی‌دی، وطواط ده دسنجر له غضب څخه خلاص کړی‌دی، دالاندی قطعه‌چه‌دنجم‌الدین محمد په مرثیه کی یی‌ویلې‌ده دده‌ده:

نجم گردون محمد محمود — زیر ابر اجل جمال نهفت
اوچوجان بودوجان‌نمیردومن — زنده را مرثیه ندانم گفت

حمیدالدین قندهاری: دریاض‌الشعرا دلیك له مخې دسلطان سنجرپه‌زمانه کښی ژوندکاوه اودالاندینی‌رباعی د بهاؤ الدین علی‌په‌ستاینه کښې دده ده:

ای قاعده دست تو از بخشیدن
چه زرکه بگنجها گهربخشیدن
روزی صد بار آب خود گردد بند
از شرم کف دست تودر بخشیدن

حکیم‌سیم‌سیمائی: دنوموړی نوم محمود د علی زوی دی دریاض‌الشعرا لیکوله‌مخی دسلجوقیانو اوغزنویانو ستایونکی (مداح)ؤ اودسترو پاچاهانو په‌دربار کښې ګډې خوراښه، قدراولوړ مقام در لود امین احمد رازی د هفت اقلیم چښتن (١٠٠٤) دی دسلطان‌سنجر دزمانې بولی اودا لاندینی اشعار دده دی:

ترا در دلبری دست تمام است
مرا در عاشقی دردی مدام است
اگرازمن بری‌صدجان حلال است
و گر بتوزیم یکدم حرام‌است

زعشق تو که جاو دان بماند
بسوی دل پیام اندر پیام است
سمائی نشکند مهر تو هر گز
اگرچه از تو کارش بی نظام است

فخرالدین مروزی : دنوموړی محضه نوم فخرالدین او د بیع زوی او تخلص ئی خالددی اودسلجوقی سلطان سنجر د زمانی لهمشهورو شاعرانو څخه دی اوله انوری سره ئې دوستی درلودله اوکوم وخت ده په یوه لیکنه (نامه) کی یوه قضیه درمز په تو گه لیکلی وه چه ملك الجبال سلطان حسین غوری ده ته په غضب شوی او انوری دی دنوموړی سلطان له قهر څخه خلاص کړی دی اوزیږیدو تاریخ ئې معلوم ندی اودمړینې تاریخ ئې د ٥٤٤ هجری قمری کال نه وروسته نا کل شوې ده اوداځو بیته ده له هغې قصیدې څخه دی چه په هره مصرع کښې ئې ددست لفظ راغلی دی .

ای دست برده از همه خوبان به دلبری
ناوردمت بدست و بماندم ز دلبری
کارم ز دست رفت چو بردی دلم تمام
د ستی تمام داری در کار دلبری
ای در صفت جمال ز بردست نیکوان
در حسن ز بردست تو هم حور و هم پری
جانم بدست تست خوش آمد ترا ببر
دست خوش توام که ز جانم تو خوشتری

عیاضی سرخسی: نوموړی دسلجوقی ملکشاه دزمانې له شعراؤ څخه ؤ اوده په دربار کښې ئې ښه عزت اوقدر ژوندکاوه - اونوم ئې عبدالرحمن اوعبدالرحیم لیکل شوی دی .

دی دملکشاه په ستاینه کښې ډیرې قصیدې لری اودطغرل او الپ ارسلان دربارونه ئې هم لیدلی وو . دالاندینی رباعی ده ده :

زلف تو هزار گونه شور انگیزد
روزی که نه از بهر بلا برخیزد
وان روز که رنگ دلبری آمیزد
دل دزد دو جان رباید و خون ریزد

شهاب الدین مروزی : نوموړی دمروې ؤ اودسلجوقی سنجر دزمانې ؤ د زیږیدو او مړینې تاریخ ئې نه دی معلوم اوده له اشعارو څخه بې له هو رباعیگانو څخه چه په لباب الالباب کښې پاتې دی نورځه لاس ته نه دی راغلی او دادوې رباعی گانې ده دی:

روزی بگلستان که خرامیدی مست
از رنگ رخ تو گل بیفتاد زدست
نظارهٔ روی تو بود گل بیوست
گل را تو چنان خوشی که ما را گل هست

وله

دوش از تو دلم شاد شدای چشمهٔ نوش
و امشب ز غم فراقت آمد بخروش
چیز یکه قیاس آن نشاید کردن
یا محنت امشب است یا راحت دوش

شیخ صفی الدین هراتی : نوموړی دطعان شاه د زمانی له شاعرانو څخه ؤ اودحال او واجد څښتن ؤ .

دده اشعار خوندور اوله ده څخه ورو ستیو شاعرانو ډیر خوښول اوفخرالدین عراقی داومې پیړۍ متصوف شاعر ، دده دالاندینی غزل استقبال کړی دی :

چه درد است اینکه عشقش نام کردند
وزو آشوب خاص و عام کردند
هر آنچه در زمانه درد دل بود
یکی کردند و عشقش نام کردند
خرابا تیست اندر عشق کانجا
من ازخون جگر در جام کردند
بیك ساغر در ان می خانه مارا
چنین سر مست و بی آرام کردند

فتوحی مروزی : حکیم اثیر الدین فتوحی مجمع الفصحا لیکلی دی چه دی د سلطان سنجر د زمانې او ده معاصرؤ اود ترمذی صابر نومی ادیب ملگری اودانورې خاورانې رقیبؤ او دبلخ دخلکو هجوئې وکړه او دانوری په نامه ئې خیره کړه چه دهغې هجوله کبله انوری دبلخ دخلکو تر پامه مړشو دمړینې نیټه ئې معلومه نده .

ریاض الشعرا دا لاندینی بیتو نه ده په نوم لیکلی دی :

رباعی

یکدم به مراعات دلم گرم نداری
یك ذره مرا رحمت وآزرم نداری
من دوست ندارم که ترا دوست ندارم
توشرم نداری که زمن شرم نداری

رباعی

باز کی گیرم اندر آغوشت کی آرم بچنگ چون دوشت
هرگز آیا بخواب خواهم دید یکشب دیگر اندر آغوشت

سنجری خراسانی : نوموړی د سلجوقی سلطان سنجر دزمانې له شاعرانو څخه ؤ له فتوحی اوانوری سره ئې په یوه زمانه کښې ژوندکاوه لکه چه خپلو پوهانو عوښتی دی چه ددوی فضل اولویتیا سره مقایسه او تعین کړی .

اشعار ئې لږ او کم پیدا کیږی دده دا لاندینی رباعی دمجمع الفصحا په لومړی ټوك او په (۲٤۹) مخ کښې لیکلی او ثبت دی.

گر بررخ چون‌ماه‌توای جان جهان
از آبله چون ستارگان هست نشان
حسن‌تو نهان‌نگردد ای ماه بدان
هرگز زستاره مه نگشته‌است نهان

شمس خراسانی : امیر شمس‌الدین خالدی د سلجو قیانو له شاعرانو څخه‌ؤ دطغرل په زمانه کښې‌پې دامارت رتبه درلودله. دسنجر ستاینه (مداحی) ئې هم کړیده او په شعر ویلو کښې دسوزنی شاګرد ؤ اودا لاندینی بیتونه د طغرل او د سلجوقی سلطان‌سنجر په‌ستاینه کښې دده دی : دسلجوقی سلطان سنجرپه ستایه کښې :

درهوای‌ملك چرخ کامران آمد پدید
وزمحیط عدل ابر در فشان آمد پدید
حافظ اسلام سلطان‌سنجرسلطان نشان
آنکه ازچرخ بلندش آستان آمدپدید

د طغرل په ستاینه کښې :

سپیده دم‌چوابر آورد شاه شرق سپاه
زروی صبح جدا کرد شب نقاب سیاه
نگار من زپی دل ربود دن عشاق
فگند دامن شبر نگ زلف بررخ ماه
بر پده باد سر ز لف سرگشت قدری
مگر که‌دست درازش زمه شود کوتاه

اسمعیل غزنوی : جمال الشعرا اسمعیل د ابر اهیم زوی دغزنی اوسید ونکی‌ؤ او د سلجوقیانو له شاعرانو څخه ؤ او داشعارو په‌ویلو کښې‌ئې‌زیات مهارت‌درلوددالاندی اشعاردده‌دی:

جان هرشراب وصل کزو نوش میکند
دل حلقهٔ ز ز لفش در گوش می کند
هر روز چند بار مرا از فراق خود
از عقل میستاند و بیهوش میکند
بر کس مباد آنکه برین سوخته جگر
آن عارض و کلالهٔ شب پوش میکند
چشمم سپید کرد ز زلف سیاه خود
روزم سیه ز نور بنا گوش می کند

کافرك غزنوی : دسلجو قیانو د زمانی یو له هزل او هجو ویونکو شاعرانو څخه‌ؤ اونوم ئې جلال‌الدین ناصر دشمس‌زوی په‌کافرك مشهور وو او په غزنی کښې زیږ یدلی دی او دده دا لاندینی رباعي دیوه‌بخیل‌په‌باب کښې ئې‌ویلی ده‌دمجمع‌الفصحا له‌لومړی جلد او ٤٨٥ مخ نه دده دکلام دنمونې (نمونه) په ډول راوړل شوې ده :

پدرش گر بنا نش دست برد بشکند خورد ناخنان پدر
پسرش گر بخوانش در نگرد بر کشد چست دیدگان‌پسر

مهستی گنجوی : د پارسۍ ژبې یوه مشهوره شاعره اود سلطان سنجر دبیره‌وه ، اوده په‌دربار کښې‌ئې‌ژوندکاوه ، نوم ئې مینجه یامنیژه‌ؤ ، اوتخلص‌ئې مهستی‌ؤ . اووطن ئې چا گنجه اوخجند اولخینو بدخشان اویانیشاپور بللی‌دی او دومره څرګنده شوی ده چه‌دې خبل ډېر ژوند په گنجه کښې تیر کړی دی ، اوله پور خطیب گنجوی سره‌ئې نکاح کړیوه د زیږ یدنې او اومړینې نیټه‌ئې نه‌ده‌معلومه،اوددې د آثارو څخه یوځورباعی ګانې دهغو له‌جملې څخه‌دی :

دردل همه شرك و روی در خاك چه بود
زهرې که بجان رسد تر یاك چه بود
خود را به میان خلق زاهد کردن
با نفس پلید جامهٔ پاك چه بود

داهم ددې‌ده :

یکدست به‌مصحفیم و یك دست بجام
گه نزد حلالیم و گه نزد حرام
مائیم درین گندم نابخته و خام
نه کافر مطلق نه مسلمان تمام

دخوارزم‌پاچاهان: دې کورنۍ‌درې سوه کاله تراسلام‌پخوا دخوارزم په‌سیمو کښې پاچاهی کوله ترهغه وخته چه ابوعبدالله محمد ددوی وروستی واکمن په۳۸۲ هجری کال کښې د اسلام دفاتحینو په‌لاس کښې کښووت او بندی کړشونو خوارزم په اسلامی حکومت پورې وترل‌شو. او په٤٠٨ه کال کښې غزنوی سلطان محمودد‌غه هیواد ونیو اودخوارزم په‌واکښې ئې‌امتون تاش وتاکه او ددی کورنۍ حکومت دسلجوقی د ملکشاه د پاچاهۍ ترزمانې پورې دوام و کړ ، دسلطان محمود له‌مړینې څخه وروسته خوارزم دسلجوقیانو په‌لاس کښووت او سلجوقی ملکشاه انوشتگین نومی چه‌په اصل کښې دغزنی‌ؤ په٤٧٠ه‌کال کښې دخوارزم‌دولایت حاکم‌مقرر کړ ، چه‌په‌خوارزم‌شاه‌ملقب‌شو له انوشتگین نه‌وروسته د خوارزم واکمنی دده په کورنۍ او لمړنیو کښې پاتې‌شوه . ددې کورنۍ د پاچا هۍ سلسله له قطب الدین محمد د انو شتگین له زوی نه شروع شوې تر خوارزمی جلال‌الدین پورې‌ئې دوام وکړ . اودخوارزمشاهیانو ترقی اولوړوالی ، د آتسز بن قطب الدین محمد اودهغه دزوی ایل ارسلان اوتکس په‌دورو کښې‌و په ٥٣٣ه کال کښې آتسز دسلطان‌سنجر په‌مخالفت راپاڅېد خو په‌پای کښې‌ئې ماتې وکړه اومغلوب شو ، همداراز دده زوی ایل ارسلان په٥٥١ ه کال کښې دقراختائیانو له‌لوری ماتې وکړه اوهر کله چه دده وروړ تکش پاچاشو ده‌دسلجوقیانو وروستنی ستر پاچاته ماتې

ورکړه اودخیلې واکمنې لمنۍ ترعراق، ماوراءالنهر اوخراسان پورې پراخه کړه اوده زوی علاؤالدین محمد دبلار نه وروسته بخارا ، سمرقند ، بلخ هرات ، اوکرمان هم ونیول او تر خیلې واکمنې لاندې ئی راوستل،اوخورا غښتلی سلطنت ئی جوړ کړ ترڅو داکورنۍ چنګیز له منځ نه وایسته اوعلاؤ الدین زوی جلال الدین له چنګیزیانو سره مقاومت اومقابله و نشوای کړای هندوستان ته وتښتید اوچنګیزیانو مغولو په ۶۲۸ هجری کښې دا کورنۍ محواوله منځه یووړه اودا کورنۍ دفضل اوعلم خاوندانو اوسامانیانو اوغزنویانو اوسلجوقیانو په څېر به ئی علما او فضلا روزل بلخی ابن سینا ،مسیحی (بوسهل ) بیرونی ، خوارزمی او داسی نورپوهان دخوارزم دپاچاهانو په دربار کښې روزل شوی دی برسېره پردی چه دعلم اوفضل خاوندان به ئی پرلخان راټول کړی وو دوی په خپله هم دښه فضل او کمال اودبشپړذوق خاوندان وو،لکه چه آتسز پخپله ددې مدعا ښکاره نښه اودلیل دی او دادی چه دده دزمانې دلوړو کسانو اوپخپله دده علم او فضیلت یادونه هم کوو.

رشیدالدین وطواط : اصلی نوم ئی رشیدالدین محمد بن محمد بن عبدالجلیل عمری دی ، نوموړی په پنځلسو واسطو خپله نسب سلسله ددوهم خلیفه حضرت عمر (رض) ته رسوی اوچه دی په قدوړو کی سړی و ،نودده د زمانې پوهانو دی دو طواط په لقب موسوم کړ ، د(۴۸۰او۴۸۷ه) کالو په منځ کښې په بلخ کښې چه دده اصلی وطن دی زېږېدلی دی ، نوموړی دبلخ په نظامیه نومی مدرسه کښې تحصیل کړی دی اودخوارزم دپاچاهانو دربار ته ئی لاره موندلې وه دېرش کاله دآتسز په دربار کښې دبیراومنشی ؤ ریاض الشعرا دده عمر ۹۷ کاله بللی دی، خوعباس اقبال دده مړینه په (۵۷۳ه) کال کښې بولی نوموړی دهغه عصر یوښه عالم اوادیب هم ؤ اوپودیوان هم لری ددغه دیوان څخه زړه بیته دی چه ډېره برخه ئی دآتسز په بریالیتوب اوستاینې کښې ویل شوې ده اود حدائق السحر کتاب ئی هم دآتسز په نامه لیکلی دی او نورې رسالې ئی په عربی ژبه لیکلی دی چه په مصر کښې چاپ شوی دی اودا لاندینی څو بیتونه دده له یوې قصیدې نه دی چه دصابر نومی ادیب په ځواب کښې ئی دآتش دلفظ په ردیف کښې ویلی دی .

زهی فروخته حسن تودر جهان آتش
زده غم تو مرا در میان جان آتش
اگر برآرم ازاندوه عشق تو نفسی ،
بگیرد از نفس من همه جهان آتش
نمانده ز آتش دل آب چشم و ترسم از آنکه
بجای آب ازچشمم شود روان آتش
ابوالمظفر خورشید خسروان آتسز
که ازصواعق چشمش کند کران آتش

آتسز : سلطان آتسز بن محمد دخوارزم له پاچایانو څخه اویوښه پیاوړی شاعرهم ؤ، رشیدالدین وطواط دآتسز دپاچهی په ټوله موده (۵۲۲ - ۵۵۱) کښې درسائلو وزیر اوده ددربار منشی اوستر دبیر بلل کېده ، اودسلجوقی سلطان سنجر د یو قهرناک فرمان په ځواب کښې دالاندینی ټطعه په خپله آتسز ویلې ده .

اگر بادپای است یکران شاه — کمیت مرا پای هم لنگ نیست
چواو آید اینجامن آنجاروم — خدای جهان راجهان تنگ نیست
ملك شهریاراست وشاه جهان — گریزازچنین پادشاه ننگ نیست

اودالاندینې رباعی هم دخپل حکومت په زمانه کښې ویلې ده .

بر ران جهان نشان فرمان منست
در گوش فلك حلقهٔ پیمان منست
بااین همه سلطنت که امروز مراست
تحصیل رضای دوست ایمان منست

آتسز یو مدون دیوان هم درلود چه دسمرقند په کتابخانه کښې دلبابالالباب مؤلف عوفی دغه دیوان مطالعه کړی دی . نوموړی به ۵۵۱ کال کښې مړشوی دی .

سلطان تکش : دسلطان شاه مشر ورور دآتسز خوارزمشاه زوی ؤ، نوموړی په اول کښې دلښکر سالار ؤ . او و روسته چه پرخپل ورور سلطان شاه ئی بری و موند نودخوارزم پاچاشو . په مجمع الفصحاء کښې هدایت لیکی کوم وخت چه دی پر خپل مربی باندې په غضب شو، اودهغه غاښ ئی مات کړ او وروسته بیا پښېمان سو نودخپل مربی په تسلائی دالاندې رباعی ولیکله.

گرشد گهری زدرج نو شینت کم
در حسن نگشته هیچ تمکینت کم
صد ماه ز اطراف رخت میتابد
گو باش ستارهٔ ز پرو نیت کم

نوموړی په ۵۹۶ هجری کال کښې مړ شوی دی .

سلطان شاه : نوموړی دآتسز زوی اودقطب الدین محمد لمسی اودا نوشتگین کړوسی اود سلطان تکش کشر ور ور دی . وروسته له هغه چه ایل ار سلان پس له اوو کلو پاچهی نه په (۵۵۸ هجری قمری ) کال کښې مړشو نو سلطان شاه دخوارزم پرتخت کښېناست اوده وروړ تکش دده په مخالفت را پاڅېد اودواړو ترمنځ دښمنی پیداشوه، او هرکله چه سلطان شاه شعر ی طبعه درلوده له نو دالاندې ر باعی ئې وویله اوخپل وروړ ته ئی ور واستاوله .

هرگه که سمند عزم من پو یه کند
د شمن ز نهیب تیغ من مویه کند

اینجا بر سول و نامه بر ناید کار
شمشیر دو رویه کار یکرو یه کند

کله چه دارباعی دسلطان تکش ته ورسیده نوده خیل ملکشاه نومی زوی ته چه عالم اوشاعر ؤ ور کړه او ورته وئې ویل چه ددی رباعی ځواب وخیل ترده ته ولیکه نو هغه په ځواب کی یه بیړه دالاندې رباعی ولیکله او وروائې استوله :

صد گنج ترا خنجر بران ما را کاشانه ترامرکب ومیدان مارا
خواهی که خصومت ازمیان برخیزد خوارزم ترامملك خراسان مارا

کله چه دارباعی سلطان شاه ته ورسیده بل ځل ئې دا ځواب ولیکه :

ای جان غم این غم رهٔ سودا گیر د
این قصه نه در شمانه در ما گیرد
تا قبضهٔ شمشیر که بالا ید خون
تا آتش اقبال که بالا گیرد

قطب الدین محمد دخوارزم پاچا : نوموړی دسلطان تکش زوی دی دپلار له مړینې وروسته دخوارزم او دخراسان تول واکی ده ته ورسیده اویووېشت کاله ئی تول واکې وکړه ، په ۵۷۲ هجری قمری کال دآبسکون په جزیره کښې مړشو . او نوموړی قطب الدین خورا زړور اوبوه ؤ. رضاقلی خان هدایت دالاندینی رباعی دده بللې ده اووائی چه سلطان دارباعی د خوشالۍ او عیش په حال کښې ویلې ده :

فردا علم فراق طی خواهم کرد
باطالع سعد قصری خواهم کرد
معشوقه موافقست و ایام بکام
اکنون نکنم نشاط کی خواهم کرد

جلال الدین : دخوارزم له نامتو اوباغیرته پاچایانو څخه دی دمغلوله فوځونوسره ئی خوشوخله خونړې جګړې وکړې ، اوپه خوشو ځایو کښې ئې دچنګیز خونړیو لښکروته ماتې ورکړه. جلال الدین دقطب الدین خوارزم شاه زوی دی . او ددې سلسلې وروستنې پاچادی، چه له ده ورو سته ددې کور نیۍ سلطنت د مغولی چنګیز له لاسه پای ته ورسید دالاندینۍ رباعی دده ده:

در رزم چو آهنم ودر بزم چو موم
بردوست مبارکیم و بردشمن شوم
از حضرت ما برند انصاف بشام
وز هیبت ما برند ز نار بروم

نظام جامی : نوموړی په اصل کښې دجام ؤ ، او هدایت وایی چه دخوارزم دتول واکانو د دربار له د بیرانو څخه ؤ .

نوم ېې نظام الدله والدین احمد ؤ. اوخوش قریحه اوښه شاعر ؤ اودښو قصائدو اونیکو خویو خاوند ؤ .

داهو بیتونه دده له یوې قصیدی نه رانقل شوی دی :

دی دلبرم رسید چوزد آفتاب تیغ
باروی هم چوآتش ودر کف چوآب تیغ
پیکان شیرغمزه چنان تیز کرده بود
کزشرم میکشید سراندر نقاب تیغ
خورشیدروی، او که ببرد آب آفتاب
میزد بنا ز بر سیر آفتاب تیغ
گفتم که بوسهٔ بده ای بت به غمزه گفت
هست این سوال را که تو کردی جواب تیغ

سراج بلخی : نوموړی په سراج الدین علا ملقب ؤ «هدایت» په مجمع الفصحاء کښې لیکی چه دی دخوارزم شاه ستا یونسکی (مداح) اواصلی ځای یی بلخ ؤ ، په فضل او کمال مشهور ، اوپه نظم اونثر کښې ئی زیات مهارت درلود . او زیات معلومات دده باره کی نور نشته . اودالاندینی هو بیتونه دده دی :

بغمزه نرگس مستش هلاك صد بید ل
به بوسه شکر نابش طبیب صد بیمار
ز دردو محنت واندوه و رنج اوفریاد
زکبرو عشوه و نازوعتاب او زنهار
زبسکه خیل خزان در چمن همی تازند
بما ند چهرهٔ آبی نهان بز یر غبا ر
زکسو تیکه چمن را بهار یافته بود
نه رنگ ماندو نه بوونه پودماندونه تار

بهاؤالدین محمد بن مؤید : اصلی نوم یی محمد بن مؤید او لقب ئی بهاؤالدین دی ،اوپه (۵۶۸- ۵۹۶) کښې دهلاؤالدین تکس خوارزم شاه ددفتر او دربارمنشی او دبیرؤ ،او دمشهور عارف ،شیخ مجمد الدین ورورؤ یو کتاب ئی د التوسل الی الترسل په نامه لیکلی دی او د مړینې نېټه ئی نه نه ده معلومه . اوله ځینو علامو دومره ځرګند ېږی چه د هجری تر (۵۸۸) کاله پوری ژوندی ؤ او دالاندینی بیتونه ئی له روزګار څخه دګیلې په ډول لیکلی دی .

تا کی از روز گار بجانم رسد گزند
آخر زجور چرخ وجفای زما نه چند
آخر چه کرده ام من بیچا رهٔ ضعیف
آخر چه بر ده ام من رنجور مستمند
از بهرمن سپند همیسو خت روز گار
اکنون مرادر آتش غم سوخت چون سپند

غوریان :

د افغانستان منځنۍ برخه چه هسك هسك غرونه او شنې زرغونې سمسورې غنډی او درې لری اوصعب المروره سیمې او هیواد دی ، په تاریخ کی د غوریانو په نامه یادېږی او دا باستانی سیمه له پخوا زمانو ودانه او معموره ده اوخلکوئی آزاد

ژوند کاوه ،لکه‌لویو او زور ورو امیراتو رانو پر دغه هیواد باندی‌بری اوسلطه نده موندلې. اوپه‌روضة الصنعاء کښی لیکل شوی‌دی‌چه غوریانو دحضرت علی کرم‌الله وجه د خلافت په‌زمانه کښی‌ایمان راوړی اومسلمان شوی‌دی .

ددغی کورنۍ سترنیکه به تاریخ کښی د (شنسب ) په‌نامه مشهوردی چه له‌حضرت علی (رض) سره معاصرؤ، نوله‌دغه‌جهته داکورنۍ شنسبانیه‌باچهان‌یاآل‌شنسب‌بولی. او په‌پښتو کړپدل ( یعنی مورنۍ ژبه‌ئی پښتوده‌چه‌داولادې اثارثی‌تراوسه شته‌دی لکه امیر کرور چه‌په ۱۳۹ ه کښی تیر شوی دی . )

داغرنۍ‌سیمه په‌پنځم اوشپږم عصر کښی خپل‌کامل او خورا سترمقام ته ورسیده اوهغه‌سلاطین چه‌به‌دغوسیمو کی یی سلطنت کړی‌دی دوی طایفی وی ، یوی په فیروز کوه کښی او بلی په بامیانو کښی سلطنت‌کاوه .

دغوری کورنۍ‌په‌سلسله کی‌محمد سام غوری‌دسلطان محمود غزنوی معاصر ؤ ، دنو موړی محمد سام او دمحمود غزنوی ترمنځ کلکی جګړی و شوی خو په پای کی د ده او د غزنوی محمود ترمنځ سوله‌وشوه‌او په‌سوله‌سره یی محمدسام غوری لاس ته راووست اوبندی یی کړ د غزنی خواته یی بندی روان کړ ، خومحمد سام چه‌دغلیم په‌لاس کښی یی‌اسارت نشو ز غملای نوله زیاته‌غیرته یی‌د ګیلان په‌سیمه کی چه‌په‌اوسنی مقر پوری مربوط دی زهر وخوړل اوداسارت اوذلت له‌حیات سره‌یی‌وداع وکړه وفات‌شو . له‌ده وروسته په‌فیروز کوه کښی دده‌زوی باچاشو اوله غزنو یانو سره یی‌دسوله‌لاروښوله،نو له‌دغه‌وروسته‌دغزنویانو او دغوری در بار په‌منځ کښی مخالفت او منا زعی‌قطعه شوی.

وروسته‌بیا دغور په‌مملکت کښی قطب‌الدین‌حسن باچا شوی دی، نوموړی یوعادل اوخورا نیک‌خوبه شخص‌ؤ، اوده په‌وخت کی‌دتګاب وګړی چه په بامیانو پوری مربوط وو او د غورله دربار څخه یی‌بغاوت کړی‌ؤ نونوموړی غوری باچا له‌هغو سره په‌جګړه کی په‌غیشی ولګید وفات شو .

له‌ده وروسته عزالدین حسین بن قطب الدین حسن به غور کښی‌باچاشو. نوموړی شاه‌حسین غوری‌اوه‌زامن درلودل :

۱ـ ملك فخرالدین چه بلار له‌خوا دبامیانو والی‌مقررشو .
۲ـ قطب‌الدین محمد چه‌به‌غور کښی دفیروز کوه امیرؤ .
۳ـ شجاع الدین .
٤ـ ناصرالدین چه دزمین داور حاکم‌ؤ .
٥ـ سیف‌الدین سوری .
٦ـ بهاءالدین سام‌دسلطان غیاثا لدین غوری بلار .
۷ـ سلطان علاؤالدین حسین غوری .

دنوموړی شاه‌حسین‌غوری له مړینی څخه‌وروسته دده لوی قطب‌الدین‌محمد دغور باچا شو اونور ولایتونه به همغه ډول چه‌بلار یی مقرر کړی‌وو، دده‌دنورو په‌منځ کی باقی پاته‌وو . او نوموړی قطب الدین چه به کوم سبب سره له نورو ورو نیو څخه‌خپه‌شو، دغزنی ودربارته راغی ، او چه نوموړی قطب‌الدین یوخورا لایق اوهوښیار سړی‌ؤ ، چه‌په‌غزنی کښی ؤ دده‌شهرت وپر زیات شو او دخلکو په‌منځ کښی یی‌زیات نفوذ پیدا کړ، نو دغزنی پاچا دده له‌داسی شهرت څخه وویرید ، نوبهرا مشاه اول دی‌بندی کړ بیایی په‌پته زهر ور کړل وفات‌شو . نوددە ورونه دغزنی له‌دربار څخه دغچ اوانتقام په فکر کښی ولویدل ، اول سیف الدین سوری چه په فیروز کوه باچاؤ ، له بشپړه زور او دپښتنو له‌قوی لشکر سره بی پر غزنی باندی یرغل راووړ او غزنی‌یی ونیو پخپله بهرامشاه دهند خواته وتښتید لاهور‌ته‌ولاړ.

اوسلطان سیف‌الدین غوری دغزنی‌پرتخت کښیناست . خو ددغه کال‌په اخیر کښی دغزنی خلکو په‌پته له بهرامشاه سره‌خط او مکاتبه جاری بیرته یی بهرا مشاه غزنی ته را و غو ښت ، بهرامشاه‌هم په‌ژمی کی غزنی‌ته راغی او غزنی یی‌بیرته ونیو،او سیف‌الدین غوری‌دغور خواته‌ولاړ، خو بهرامشاه دده‌تعقیب وکړ په‌لار کښی‌یی‌سیف‌الدین اوددە‌وزیرسیدمجدالدین‌موسوی‌ونیول، غزنی ته‌یی راوستل دواړه‌یی په غرغره ووژل . نوله دې پېښی وروسته‌دده دنورو ورونو په‌سینو کښی دانتقام اخیستلو او غیظ داورلمبی‌بلی شوی، اوغوری شاهزاده ګانو د خپلودوو ورونو دانتقام په‌غرض چه دغزنوی بهرامشاه له‌خوا په‌شهادت رسیدلی وو، بیرغونه وټړل،اوسلطان‌علاءالدین حسین غوری چه‌له سیف الدین وروسته دغور پرتختناست‌ؤ له‌دولسو زرو پښتنو لښکرو سره دغزنی پرخوار اروان‌شو. اوله خونړیو جګړو ورو سته یی‌چه‌له بهرامشاه سره‌یی وکړی غزنی‌یی‌ونیو ، اوښارته‌یی هم اورورواچاؤ اودغزنو‌یانو مانیې او سلطنتی آثاریی ټول محو کړل، اوپه‌افغانستان کښی په هرلحاظ کښی‌بی دغزنوی پاچهانو آثارمحواوله‌منځه یووړل، لکه دتګین آبادښارچه دسبکتګین به‌نامه‌یی به‌بست کی غزنویانو آبادکړی‌ؤ اولښکرګاه هم‌چه دغوریانو په‌مقابل کښی دبست په‌حد کی دغزنویانو یو کلک عسکری استحکام‌اوچونۍ‌یی‌جوړه کړې‌وه‌هغه‌هم غوری‌سلطان علاءالدین محواونابودکړل چه‌گویاًدغزنویانو نخښی یی بیخی له‌افغانستان ورکی کړی .

علاءالدین‌حسین دغزنی‌له‌فتح‌څخه وروسته بیرته دغورخواته ولاړ، اوپه(۵۵۱)هجری‌قمری‌کال وفات شو، او دده زوی سیف الدین‌محمد دغور پرتخت کښیناست،اوسیف الدین محمد د خپل کاکازوی‌غیاث‌الدین محمدبن‌بهاءالدین سام‌چه‌دده بلار علاءالدین حسین‌دخپل سلطنت په‌وخت کښی دغوردخیرستابه کلاکښی‌بندی کړی‌ؤ، له‌بندی خانی‌څخه راوایست اودیو ولایت والی یی‌مقرر کړ، نوموړی غیاث‌الدین دسیف‌الدین محمد لـه مرګ څخه په۵۵۸هجری کال‌دخلکو به اتفاق دغور پرتخت کښیناست

اودخیل وروربشهاب‌الدین په مرسته او کومك یی دغور قلمروته وسعت ورکړ، خراسان بلخ، هرات سند، پنجاب او صوب سرحد یی په‌خپل حکومت پوری ضمیمه‌اوترخپل اقتدار لاندی یی راوستل

اونوموړی غیاث‌الدین یووار له‌خپل تره د بامیانوله والی فخرالدین‌سره چه‌دغوردفیروز کوه‌دتخت‌داوطلب‌اوغوښتونکی ؤ هم‌جګړه وکړه اوهغه‌ئی په‌جنګ کی‌بندی‌ونیو، خوپه‌خورازیات احترام‌اوعزت سره‌یی‌بیرته بامیانوته ولیږو، اود مملکت شرقی اوشمالی‌برخی‌یی تولی دهغه اولادی‌ته چه دکاکازامن یی وو وسیارلی .

وروسته‌له‌هغه‌چه سلطان‌غیاث‌الدین د٤١ کلنی عمر په (٥٩٩ق‌ه) کښی وفات‌شو، نوزده وروړسلطان شهاب غوری په‌غزنی کښی‌دافغانستان دسلطنت‌پرتخت کښیناست او خپل حیات‌تر‌پایه پوری‌یی دافغان‌ستره امپراتوری‌یی تشکیله کړه تول‌هندوستان یی‌دشرقی سرحد پوری فتح کړ ، اوله فارس اوچیحون‌څخه بهاتر‌بحرهند پوری اودهند او برما تر سرحدو پوری داتول وطنونه یی فتح کړل، دافغان‌قوم د پاره یی‌یوه بالافتخاره اوخوراستره امپراتوری جوړه کړه . اوپه تول‌هند کښی‌یی چه‌سابقه‌یی نه‌ارله داسلام اساسونه کښیښودل او دهند په تولە خاوره کښی دغه پښتانه غازی سلطان اسلامی سلطنت تاسیس کړ، چه‌تراوسه‌پوری هغه‌دده اسلامی اسا سونه شته ددغه غازی‌ستر‌پښتانه‌له‌مړینی‌څخه ورو سته دده وراره دسلطان غیاث الدین‌زوی محمودد‌غور بر تخت کښیناست او نوموړی ددغی کورنی ورو‌ستنی‌باچادی، اواوه کاله‌یی سلطنت و کړ .

اوپه(٦٠٧هق)کال دنوموړی پا چا له مړینی‌سره سم دغوریانو سلطنت دخوارزمشایانو په‌لاس کی ولوید ، اودغوریانو سلسله بای‌ته ور سیده .

غوری سلاطین ددوی تیروسلاطینو په‌شان د فضل خاوندان اوعلم‌پروره اوفضیلت روزونکی‌وو . فاضلان او شاعران به‌یی روزل ددوی دربار‌دعلماؤ او فاضلانو او شاعرانو مرجع‌ؤددوی دترغیب اوغوښتنی لـه کـبلهؤ ، چه خورا زیات عـلمی اوغوره آثار‌په‌عربی، فارسی اوپښتو کی‌منځ ته‌راغلی‌دی ،چه‌له‌هغی‌جملی څخه مجمع‌النوادر‌یاچهار‌مقاله د ابوالحسن احمدبن‌عمر بن علی نظامی عروضی سمرقندی‌ده چه د یوغوری شاهزاده په نامه‌ئې چه‌ابوالحسن حسام‌الدین علی نو مید تالیف کـړی‌دی ، دا اثر دلیکلو اوسبك‌تحریر او سلاست اوروانتیا له‌نقطه‌نظره‌دیخوانو او وروستنوپیړیو له خوراسترو اوغوره آثارو څخه‌دی ، چه‌په پارسی‌ژبه لیکلی شوی‌دی . د دغه عصر بل نامتو فاضل دغور دسلاطینو‌دتاریخ لیکونکی فخرالدین مبارکـشاه‌دی،چه‌دسلطان علاءالدین حسین‌غوری وزیرهمؤ ، بل‌سید ظهـور الدین یحیی سرخسی ددیوان انشاء غیاث الدین خاوند . بل‌ابونصر فراهی دنصاب الصبیان خاوند د دغه عصر له‌فضلاؤ څخه تیر شوی‌دی له‌دې کـبله‌چه دغور سلاطینوعلماء او شاعران اولیـکونـکی تربیه اوپرورښت‌کول نودوې پخپله هم دعلم او فضل اودشعری سلیم‌ذوق خـاوندان وو ، لـکه چه د سلطان علاء الدین حسین غوری اشعار اوس شته ، چه‌لاندی لیکل کـیږی .

سلطان علاءالدین غوری: نوموړی‌سلطان دعزالدین‌حسین‌بن قطب الـدین حسن‌غوری زوی‌ؤ هغه وخت چه دغـزنی شاریی دخپلو ورونو قطب‌الدین اوسیف‌الدین غوری دوینو دانتقام اخیستلوله‌املە وسوځاوه نوځینو خلـکوده ته جهان سوز ویلی دی، نوموړی غوری سلطان دشعرمینه‌لرله لکه‌چه په هغه وخت چه‌غزنی‌یی فتح کړ، نویوه فخریه‌یی وویله ، چه‌دهغی څو بیتونه لاندی راوړل شوی‌دی .

جهان داند که‌من شاه جهانم — چراغ دودهٔ عبا سیانـم
علاء الدین حسین بن حسینم — فلك بازیگر تیغ و سنانم
که با داموج زن گرد سپاهم — کـه باقی بادملك خاندانم
چو بر گـلگون دولت بر نشینم — یکی باشدزمین و آسمانم
همه‌عالم بگردم چون سکندر — بهر کشورشهٔ‌دیگر نشانم

علاءالدین دیومدون اوبشپړ دیوان خاوند دی، چه عوفـی هغه‌یووار‌دسمرقندپه کـتب‌خانه کښی‌دآتـزله دیوان سره‌مطالعه کړی‌دی خوله بده مرغه اوس په‌لاس کـښی نشته . نـوموړی سلطان په٥٥١ه هجری‌قمری په غور کښی وفات شوی دی .

معین‌الدین چشتی هروی : خواجه خواجـگان معین الحـق والشروع والدین حسن سنجری دچشت د کـلی دی، چه دهرات له‌مربوطاتو څخه‌دی نوموړی په٥٣٧ هجری کښی زېږیدلی‌دی اوچه‌دی دطریقت پیشو او دحقیقت دمسلك لارښو دونکی شو نوله‌دغه کـبله چشتیې طریقې دده په‌نامه شهرت وموند خواجه معین‌الدین چشتی په‌هندوستان کښی دنبوی‌ددین ناشر اودعلوی چشتی طریقی شائـع کوونکی شو، دالانـدی بیتونه له‌ریاض العارفین‌څخه دده‌د کلام نمونه اقتباس شوی دی .

## غزل

سیل‌را نعره از آن است که از بحر جداست
وآنکه بابحر در آ میخته خاموش آمـد
نکتهادوش لبم گـفت و شنید ازلب یار
که‌نه‌هرگز بزبان رفت ونه‌در گوش‌آمد
هر کراهوش و قرار است میش ده ساقی
که معینش زازل بیخو دو مدهوش آمد

داهم دده دی :

بحق‌او که بکو نین دیده نکشا یم
که تا نخست نبینم جمـال مولی‌را

اگر در آتش عشقت بسوختم چه‌عجب
که کوه تاب نیاورد این تجلی را

(معین) بچشم‌خردحسن‌دوست ننماید
ببین بدیدهٔ مجنون جمال لیلی را

رباعی

عاشق همه‌دم فکر رخ دوست کند
معشوق کرشمهٔ که‌نیکوست کند
ماجرم وخطا کنیم‌واولطف وعطا
هر کس چیزی که‌لایق اوست کند

حضرت خواجه ،به په شعر کښی خپل تخلص (معین) وایه دی‌په ۶۳۳ هجری کال درجب په میاشت کښی ددو شنبی په ورځ دشمس‌الدین التمش دسلطنت په‌عصر کښی وفات شوی‌دی اوپه اجمیر کښی دده مزار دی، (معین‌الدین چشتی‌دې و کتل‌شی

عروضی‌سمرقندی: دشپږمی پیړۍ له‌سترو لیکونکوشخه ؤ دده نوم ابوالحسن نظام‌الدین احمدبن عمربن‌علی، اوپه‌نظامی عروضی سمرقندی مشهورؤ شو موده له سلطان علاء الدین غوری سره ؤ ، اوهغه وخت چه سلطان علاء الدین غوری له‌سلطان سنجر شخه ماتې وکړه نودی په هرات کښی پټ‌شو دده منثور اثر مجمع‌النوا در سره له خلورو مقالودی ،چه په ۵۵۱ - او۵۵۲ هجری‌قمری کښی‌یی د حسام الدین علی بن‌فخر الدوله‌مسعودبن عزالدین حسین په‌نامه تالیف کړې دی دده‌نثر له‌نظم‌شخه قوی‌دی نوموړی سربیره برشاعرې اودبیری په‌نجوم اوطب کښی هم لاس اومهارت درلود .

دالاندی پنځه فرده‌یی دغور دباچا قطب‌الدین حسین‌غوری په‌دربار کی مرتجلا ویلی دی :

در جهان سه نظامی ایم ای شاه
که جهانی ز ما در افغانند
من بو رسا د بیش تخت شهم
وان دو در مرو پیش سلطانند
بحقیقت که در سخن امروز
هر یکی مفخر خرا سانند
گرچه هم چون روان سخن گویند
ورچه هم چون خرد سخن دانند
من شرابم که شان چو در یابم
هردو از کار خود فرو مانند

عجیبی جوزجانی : عجیبی د غیاث الدین غوری دپلار بهاءالدین سام ددربار شاعرؤ نوم یی شمس‌الدین او تخلص‌یی عجیبی‌ؤ، په جوز جان کښی چه دبلخ له مر بو طاتو شخه دی زیږیدلی‌دی دده دزوکړې او وفات تاریخ نه دی څرګند . عوفی پخیل لباب‌الالباب کښی دده په‌نامه یوه قصیده ذکر کړې ده، چه‌دبهاء الدین سام په ستاینه کی یی ویلې ده ، دالاندی څو بیتونه له‌هغی څخه اقتباس شوی دی :

چون شمع روز روشن از ایوان آسمان
ناگه او فتاد بدر یای قیر وان
دوش زمین وفرق هوا را ز قیرو مشك
سحر سپهر کوه زر دا کر ده طیلسان
آورد پای مهر چو در دامن زمین
بگرفت دست ماه گریبان آسمان
بر طارم فلك چو شهٔ هند شدمکین
درخاك تیره شد ملك روم را مکان

فخرالدین مبارکشاه : فخرالدین بن‌حسن مبارك شاه یی لقبؤ نوموړی دغوردتاریخ مؤلف‌دی، اودی په اول کښی د سلطان علاء الدین حسین‌غوری ددربار وزیرؤ، اوبیائې د سلطان غیاث‌الدین غوری په‌خدمت کښی څه‌موده تیره کړې ده منهاج الدین جوزجانی چه‌زموږ دګران وطن له‌نامتو مورخانو څخه دی دالاندینیږ رباعی‌یی په‌طبقات ناصری کښی دده په نامه ثبت کړې‌ده :

اندرمی ومعشوق و نگار آویزی
به زان باشد که‌درشکار آویزی
آهوی بهشتی چو بدام تو درست
اندر بزکوهی بچه کار آویزی

شمس‌الدین مبارك‌سهاکړی: دده‌نوم شمس‌الدین او تخلص بی‌مبارك ؤ، دریاض‌الشعرا خاوندوایی : چه دنیمروز باچاهی دده په‌لاس کښی وه ، اودسلطان غیاث‌الدین په ستاینه کښی زیات اشعارویلی‌دی عوفی په‌سیستان کښی له‌ده سره لیدلی دی اولیکلی‌یی‌دی چه‌څومودې په کرمان او پنجاب کښی بندی، ؤ .

دالاندی قطعه‌یی‌دناصر الدین عثمان په مرثیه کی ویلې ده ده‌ته‌یی نسبت کړی‌دی :

بی تیغ تو فتنه کامرانی دارد
اسلام ز کفر ناتوانی دارد
سربرکن‌وبنگر که زمرگ‌توجهان
در پای بلا چه زندگانی دارد

اودالاندینیږ رباعی‌هم دده‌ده :

دردور زمانه‌بخل از ین مطعونان
شد فاش چنان که‌حکمت‌اندریونان
گر رستم دستان بمثل زنده شود
یکنان بستانند بسنان زین دونان

ظهیرالدین سهاك‌زی: نوم یی ظهیرالدین اووطن‌یی‌نیمروز دی، کوم‌وزر دهستازی په‌توګه‌دغور دربارته تللی‌دی‌اودسلطان غیاث‌الدین خدمت‌ته رسیدلی‌دی، اود سلطان ستاینه یی کړې‌ده

اودهغه له‌خوایی نوازش لیدلی‌دی اودالاندی بیتونه دده له هغی قصیدی څخه دی چه‌دمبارکشاه چه‌دفخرالدین مبارک‌شاه په‌مدح کې ویلې ده :

ای بلفظ توزنده جان سخن — ای زطبع توزاده کان‌سخن
چون‌تو درهیچ دور پر نکشاد — شاهبازی ز آشیان سخن
چون‌تودرهیچ وقت رخ‌ننمود — آفتابی زآسمان سخن
نیمکاران طبع وذهن تواند — نقشبندان پر نیان سخن
آن‌سواری که‌رخ نگردانی — هرگز ازهیچ پهلوان سخن

احمدالکافی: دده دزیږیدی او ځای اصلی وطن معلوم‌ندی

لحینی‌یوهان دتذکره لیکونکو دوینا‌له‌مخی دده دژوندانه‌ورځی دسلطان‌غیاث‌الدین غوری په دربار کښی وایی د مجمع الفصحا خاونددده‌نوم فریدالدین احمدبن‌محمد دکافی لـه دیار څخه ثبت کړی‌دی یوه‌مصنوعی قصیده‌یی دسلطان‌غیاث‌الدین غوری‌په‌مدح کې ویلی‌ده، چه دقصیدی‌په‌تشبیب کښی‌یی دگـل‌اودمی دلفظو اودهغه‌په‌مدح کښی‌یی دسایه‌اودآفتاب دلفظو التزام په هر بیت کی کړی‌دی، چه‌دده دکـلام دنمونی په‌ډول دالاندی څو بیتونه له‌هغی‌څخه اقتباس شوی‌دی .

ای گـل ومی را برخسار ولب تو افتخار
چون گـل‌میگون‌بیار آمدی گـلـگون بیار
شکل گل‌چون‌شکل‌جام‌ورنگ‌می چون‌رنگ گل
هست گوئی هردو را ازهم صفتها استعار
باغرا بیگل کجاباشد در ین هنگام قدر
جام رابی‌می کجا باشد درین موسم قرار
گـل‌زمی‌جوید‌شعاع‌ومی‌زگـل گیرد فروغ
باگـل‌ومی عیش کن بی‌زحمت خاروخمار

محمدبن‌عمرفرقدی: دخراسان یومعروف شاعر دی ، دلباب الالباب دخاوندعوفی دویلوله‌مخی څرگندیږی چه‌دی‌دسلطان غیاث‌الدین محمدبن‌سام‌غوری په دربار کښی وُ، اوډیری قصیدی یی‌دهغه په‌ستاینه کی ویلی‌دی او دالاندی څو بیتونه دده دی :

ای‌تیغ تو بی مجال وتـاخیر — چون تیغ سپیده دم‌جهانگیر
درعالم کهل یك‌جوان بخت — مثـل تو نداد عالمم پـیر
ای بـر دربار گـاه جاهت — نه‌حلقهٔ چرخ هم چوزنجیر

ازهری‌هروی: دده‌نوم‌جمال الدین اوتخلص‌یی ازهـری دی دمجمع‌الفصحا خاوند دده په نامه یوه قصیده نقل کړې ده چه دتاج‌الدین محمدپه‌مدح کی یی ویلې‌ده ، اونور احوال‌یی نه‌دی معلوم. دالاندی بیتونه دده دی :

ای‌درغم توگـشته مراچشمه سار چشم
ناخورده می چراست ترا پرخمارچشم
خونم هدر مکن که بسیلا بهای خون
خود می‌نهد سزای‌من اندر کنار چشم
جای‌رسیده کـار که بی وصل روی‌تو
باهجرتو بکشتن من گـشته یـارچشم
دادی بوصل‌وعده وگـفتی زروی طنز
چیزی که‌کس نیافت‌تو ازمامدارچشم

شمس‌الدین‌محمد ساکزی: نوموړی په‌اصل‌کښی د سیستان‌وُ اودخیلی زمانی له پیاوړیو شاعرانو اونامتو لیکوا لو څخه وُ تصنیفونه‌یی هم کړی دی، چه‌له‌هغی څخه یوه‌ده مجمع‌البحرین کـتاب‌دی اوملك‌تاج‌الدین یلدز دهرات‌حاکم له‌ده سره نیزدی مناسبات درلودل، دالاندی رباعی‌دده ده‌چه‌دده دپاره یی‌نصیحت لیکلی دی :

شاها باید کز تو دلی کم شکند
لطف تو هزار لشـکر غم شکند
اوریشه بکار دار کـاندر سحری
یك آه هزار ملك بر هـم شکند

اودالاندی رباعی هم دده ده :

یك‌سحر بردل ما باد صبائی بفرست
درد مندیم ز هجرتو دوائی بفرست
گرسزاوار گـل‌روضهٔ باغ تونه‌ایم
آخرازباغ‌جفاهات گـیاهی بفرست

پرته‌له‌پورتنیو شاعرانو، عوفی یوشمیر نور شاعران هم یاد کړی‌دی،چه‌هغوی‌هم‌افغانستان‌اوددې‌هیواد باچها نوته منسوب‌دی، خودهغو ژوندنموده‌اوچه‌دافغانستان دکوم باچا په دربار کی‌وو، په‌تحقیق‌نه‌دی معلوم . نوله‌دغه کـبله‌دهغویادونه دغوردشاعرانو څخه‌وروسته وړ او مناسب و بلله‌شوه اوپه‌لنډه‌توگه‌یی‌بیانوو :

۱- بدرالدین‌هروی: دلباب‌الالباب خاوندمحمد عوفی دهغه زیاته ستاینه کړې‌ده‌اوله‌هغه‌سره‌ئې مجلسونه‌هم کړی دی‌اووایی چه‌دعلاءالملك‌ابوبکردملك‌الوزراءمداحی‌ئی کوله ریاض الشعرا دالاندی‌رباعی دهغه په نامه ثبت کړې ده :

که تاب کـمند مشکبار تو کشم
که غصه جـزع پر خمار تو کشم
بردل زنهال وصل یـکشاخ نماند
آخر بکدام بـرگ بار تو کشم

۲ ــ صندلی‌غزنوی : دمجمع‌الفصحا خاوند ، نوموړی یو دحکمت‌حکیم اویوخوږ خبریال ملګری بللی‌دی او محمدعوفی دی دکمالاتو خاوند بللی اوښه‌ستاینه یی کړی ده، دالا ندی رباعی اودری فرده دده دی :

ر بـاعی

جانا زرخت نمی گر یزد چشمم
نقشی دگری نمی پذیرد چشمم

این تشنه دیدار توغرقست درآب
تر سم که‌درآب تشنه میرد چشمم
داهم دده دی .
ای‌خرامیده زپیشم‌بابناگوشی چو سیم
باخطی‌درگرد سیم‌ازمشك سارا آمده
همچوگل نازك چوریحان خرم زمن رفته‌باز
همچو نرگس‌شوخ وهمچون لاله رعنا آمده
آتش‌اندرسنگ‌خارا گشته ئی‌خاطر مزاج
آتشین‌تیغ‌توچون‌درسنگ خارا آمده

۳ ـ ابوالفضل حاجی‌عثمان هروی: ابوالفضل عثمان بن احمد هروی‌دعوفی‌له‌معاصرانوشخه‌دی.دلباب الالباب خاوند وایی چه نوموړی دخراسان له‌ذوق‌لرونکو شاعرانو څخه‌ؤ ، اوشه موده په‌نیشاپور کښی ؤ،اوعوفی‌هم په‌هفه‌ځای کښی‌دده خدمت‌رسیدلی دی اوده سره آسوده ؤ . اوښه اشعار یی لرل .
اودادوې ښی رباعی دده له‌باریکو خیالاتو څخه‌دی :
معشوقه که عمر ش چو غمم باد دراز
امروز تلـطف د گـر کـرد آ غـاز
برچشم من افگند دمی چشم و برفت
یعنی که‌نیکوئی کن و در آب انداز
داهم دده ده :
دی گـفتمش ای گشته‌دل‌ازمهر توخون
بـرسیب تو چیست نقطهٔغا لیه گـون
گـفتا ز لطافتی که‌در سیب من است
آن دانه بـود کـه مینما ید زدرون

٤ـ فریدالدین سنجری: فرید الدین‌له‌هغوشاعرانو څخه‌دی چه له‌عوفی سره رنځولی وو ، اودده له‌قول سره سم په ځوانی کی بی‌باکه ؤ. دځوانۍ ورځی‌بی په‌عیش او عشرت تیری کړی دی ، وروسته‌ثابته‌شوه چه‌دزهد اوتقوی‌لار یی ونبوله . دالاندی دوې رباعی دده دی :

رباعی

راه دل مـن آن‌بـت دلخواه زند
دزد است عجب نبود اگر راه زند
جامیست که چاه زنخش میخوا نند
زلفش همه ره برسر آن چاه زند

رباعی

با آنکه د ل تو طبع آ هن دا رد
جان در سر زلفین تو مسکن دارد
گرد سر کویتوهمی گردم زآنکه
خاك رمه چشم گر گ روشن دارد

۵ ـ فخزالدین خطاط هروی : دریـاض الشعرا دلیکنی له مخی څرگندیږی چه‌نوموړی‌دلوړی‌مرتبی خاوندانو خبریالانو (سخنوران) څخه‌ؤ اوپه خوش نویسۍ کښی‌هم منـلی‌ؤ پەخپل عصر کی ، اوپه وعظ کی یی‌ساری نه‌درلود ، دعوفی معاصرؤ اودهفه مجلسونه هم کړی وو ، دالاندی رباعی پەریاض‌الشعرا کی دده پەنامه ثبت شوې ده :

بر گل ازسنبل چلیپا میکنی بس‌مسلمانرا که ترسامیکنی
میستانی عمرو عشوه مید هی راستی را نیك سو دا میکنی

٦ ـ بدیع الدین سنجری : لوموړی په شعر کی حکیما نه اسلوب درلود، رباعی به‌یی‌زیاتی ویلی ، په‌لباب‌الانباب کی‌یی لنډ ذکر راغلی‌دی .
دالاندی دوې رباعی دده‌دی :
گـل را چـودم بادصبا خار نهاد
ازپوست برون آمد وبر خاك فتاد
بلبل چو بدید گـفتش ای حورنژاد
بد کردی توکه تکیه‌کردی برباد
داهم دده ده :
تا کـی بـاشی بـرای نانـی بامید
هر جائی وهردری چو قرص خورشید
بـا زادهٔ خاطـر ونـم د یـده بسا ز
کین آب سیاه تیست و آن نان سپید

۷ ـ فتحی غزنوی : علی بن محمد فتحی غزنوی الاصلؤ، نوموړی شه‌شاعرؤ: دالاندی رباعی اولاندی‌دوه بیتونه‌دده‌دی:

رباعی

تسلیم زراه عشق جان یا فتن است
معشو ق لطیف را نـهـان یافـتن
این‌را گم‌کن اگر توآن می‌طلبی
کاین گم کردن از بـهرآن یـافتن

دالاندی دوه بیتونه‌دده دهغی قصیدی‌دی چه‌په توحید کښی یی ویلې‌ده :
هرروز بفرمان تو گردان وروان‌است
این کشتی یاقوت درین نیلی دریـا
پاشی بکرم بر سر گل دانهٔ لوء لوء
پوشی بنعم در بـر گـل جـامهٔ دیبـا

۸ ـ شیخ الاسلام حارثی : نوموړی دخپلی زمانی له لویو علماؤ اوسترو فضلاؤ څخه‌ؤ ، عوفی‌وایی چه‌ماددده له‌خدمت څخه شبه گټنه حاصله کړې‌ده ، اوداسی وایی چه‌د احادیثوسند یی له‌ده څخه اخیستی‌دی ، سره له دې دده مرتبه په شعر کی‌له هغه څخه لوړه وه ، خوکله کله چه‌په فارسی شعر ته متوجه شو

په‌هغه کښی به‌یی هم کمه‌درجه نه‌لرله ، لکه چه عو فی وایی :

« په‌وینا اوخبرو کی‌می‌دده مقام داسی پیدا کړ چه‌په بیان کی نه‌راځی » نوموړی دپیغامبر داهل بیتو اود پاکو اما مانو په مدح اوستاینه کی زیات اشعار په فارسی ژ به و یلی دی .

نوموړی دبلخ ، اویامروی په‌خواو شاکی زیښدلی دی .

دالاندی دوې رباعی دده دکلام نمونه‌ده :

یارب من تشنه جام‌خون چند کشم
با رستم چرخ نگون چند کشم
از بهر دو لقمهٔ که هم دادهٔ تست
من منت هر ناکس دون چند کشم

بله داده :

حال با ری درآتشم تاچه شود
خاکستر همیشه بفر ستم تاچه شود
با نا خوشی دهر خوشم تاچه شود
تومیکش و من همیکشم تاچه شود

۹ ـ ضیاء الدین محمود کابلی : دریاض الشعرا خاوند دی غزنوی بولی ، وایی چه‌ضیاء الدین محمودغزنوی د «کابلی» په تخلص شهرت درلود ، نوموړی دخپلی زمانی له فضلاؤ څخه‌ؤ.

ضیاء الدین کابلی په‌غزنی کښی له‌فضلاؤ او شاعرانو سره گډون لاره ، دالاندی رباعی دده ده :

چشمم‌زتوخون گریست حیرانش کن
دانسته بز هر خند گر یا نش کن
در زلف فراهمت دلی دارم من
ز نهار شکستست پر یشا نش کن

دالاندی څو بیتونه‌دده له‌هغی نعتیی‌قطعی‌څخه‌دی چه‌خپل‌خط‌یی عوفی ته ور کړی دی :

آیادر عالم عزو جلالت وقدرت ازقلت
کمال کل موجودات جمله‌آفرینش گم
چو نعل اندرهوای رفعت‌جاه توسال‌ومه
براق آسمان‌هاراز پوی‌وتگ‌فتاده‌سم
کجا امکان‌بود ادراك اوج کبریای‌تو
که در گتم‌عدم‌افتدزفکرت خاطر مردم

صفی دین معینی ملت استاد ملوك احمد
توئی والا خداوند فلك چاکر غلام نجم

۱۰ ـ واعظی بلخی : دده نوم حکیم ابوبکر بن‌محمدؤ ، په‌واعظی مشهور اوبلخی دی . نو موړی متقی او پرهیزگار سړی ؤ، مناقب به‌یی ډپرویل اوپه‌بلخ کښی به‌یی و عظ کاوه دالاندی څو بیتونه په لبالالباب او مجمع‌الفصحا کښی دده په نامه قید دی :

نه ز ازحل بدی و نه نیکی زمشتر ی
هست‌این‌همه زداورونیك است داوری
هر نیك‌وبد که‌هست‌زتقدیروحکم‌اوست
نه زدور دائراست و نه‌ازچرخ چنبری
اندوه ورنج وراحت وشادی و عز ذل
دردوغنا ونـاله ومـال و توان گری
بخت جوان ودولت مسعود وروز سعد
بـدبختی وعنـادو بـلا وبـدا ختری
ازفضل‌وعدل حق شمروگرشدت یقین
نـام هـوا زنـامـهٔ اعـمـال بـتـری

۱۱ ـ ضیاءالدین بلخی : عوفی له‌ده سره‌په‌بلخ کښی‌ایدلی دی، او نوموړی دهغه ښار واعظ بولی، وایی چه دی ښه خطیب اوښه واعظ ؤ، لکه چه هغی‌یوې رباعی څخه‌یی چه دکوم شخص په‌خواب کښی لیکلی ده او له دی څخه چه‌خپله بگړی‌ـ به‌یی دوعظ په‌محال کی‌ډېره راتپه‌وله دفاع‌یی کړې ده څرگندیږی چه نوموړی زیات اشعاردرلودل اودده ویناوی دوگړیو پرژبه ورد، وی . هغه رباعی دالاندی رباعی ده :

یـکشهر حدیث مـن واشعـار منست
درهر کـنجی سخن ز گـفتار منست
گرپیش نهم یـاپسش ای مـرد سرهٔ
یـالان خر تـو نیست د ستـار منست

دالاندی بیتونه هم دده دی :

زهی‌درشان تو منزل همه آیات سلطانی
بدیدهٔ عقل دردست‌تو رایات جهان بانی
توخورشیدجهانگری‌ازآن‌باتیغ صبح‌آسا
گرفتی هفت کشور رابیك‌ساعت به‌آسانی
چنان آسوده شد جمع خلایق دردیار تو
که جز درطرهٔ دلبر نه‌بیند کس پریشانی

په پنځمه شپېزمه او اوومه پېړۍ کښی دفارسی نثر :

لکه چه دسلجوقیانو په‌دوره کی‌ددری ژبی‌نظم مخ‌برتکامل ولاړ، نودسلجوقیانو باچهانو دادب پروری‌ـ اوشعردوستی‌ـ له کبله ددغی ژبی نثرهم زیات پرمخ و لاړ او ترقی یی و کړه، لکه چه مشهورو لیکونکو اومؤلفینو د آثارو په لیکلو پیل و کړ اوډول ډول‌تالیفات‌یی و کړل، چه‌نن‌ورځ دهغو آثـار او لیکنی دپارسی ژبی له شاکاریو څخه گڼل کیږی .

سره‌له‌دې چه د سلجوقیانو داولی دورې‌دنثر اودتیرو دورو لکه دغزنویانو او سامانیانو ددورو دنثر په مـنځ کښی چندان توپیر نشته نوله همدغه کبله داولی سلجوقی‌دورې نثردپخوانو دورو له‌نثرسره د پخوانو دنثر له‌جملی څخه گڼی، سره له‌هغه

هم په‌دوهمه سلجوقی دوره اوداومی هجری پیړۍ په‌اولووختو کی په‌نثر کښی تحول او تکلفی شایع کیږی چـه د مغولو په دور کی دمتوسطینو دسبك اساس ږدی .

له‌اسلام څخه‌وروسته‌دپارسی‌نثرڅینو پرعلورو د ورووېشلی دی، دېخوانو (متقدمینو) دوره (دردیمی پیړۍ لـه اولو څخه داومې پیړۍ‌تراولووختو پوری) دمنځنیودوره ( داومی پیړۍ له اولووختو څخه‌دلسمی‌پیړۍ تراولو وختوپوری ) دوروستنیو (متأخرین) دوره (دلسمی پیړۍ له اولووختوڅخه ترڅورلسمی پیړۍ پوری) . (دڅورلسمی پیړۍ له‌اولو وختو څخه تراوسه ١٣٧٥ پوری) معاصرین ګڼل کیږی . دسلجو قیانـو عصر دمتقدمینو دسبك له‌جملی څخه ګڼی چه‌هغه د دریمی پیړۍ له اولووختو څخه لکه چه رومبی وویل شوو شروع او د اومـی هجری پیړۍ‌تراولووختو پوری‌یې دوام کړی‌دی، په دې ترتیب سره ددغه عصر نثردېخوانو زمانو له‌نثر سره چندان تو پیر او اختلاف نه‌لری، چه ږیر ساده اوسلیس اوله لفظی تکلـف او زوائدو څخه خالی‌دی اوپه عین حال پوخ اومتین هم دی .

خو بله ږله چه‌له‌اسلام څخه وروسته‌یی دپارسی اثارمطالعه کړی اودهغو دلیکنی طرزاواسلوب یی کتلی‌وتدقیق کړی‌دی نوشیږ مختلفی دورې‌ورته ټاکلی‌دی ، په‌دې ډول : چه‌دسامانی دوری نثر له ٣٠٠ څخه شروع شوی تر٤٥٠ هجری پوری‌یی دوام کړی‌دی، اودپارسی ژبی‌دنثر رومبیږ دوره ګڼله کیږی.

اوددغی دوری آثار چه دپارسی ژبی دنثر ږیر سیېځلی او خالص آثاریی ګڼی دعربی له‌شدید تاثیر څخه لیری پاته دی، چه‌په سلوکی له دوو څخه زیات عربی لغات په هغه کښی نشته، سجع اوموازنه په‌هغه کښی نشته ، جملی یی ږېری لنډی لیکلی شوی دی، یوه پر بله عطف، شویو فقرو اوجملو کښی‌یی الفاظ اوافعال مکرر دی، او دپارسی ژبی ږیر زاړه اوپخوانی لغتونه په هغه کښی پکار شوی دی ، عربی کلمی دپارسی په طرز سره پکښی جمع‌شوی‌دی، اودڅینوعربی الفاظو په‌جمع کښی دپارسی جمع علامی زیاتی شوی دی .

ددغی دورې له غوره آثارو څخه یو دابو منصوری د شاهنامی مقدمه‌ده ، چه‌په٣٤٦ هجری‌قمری کښی‌یی دابو منصور محمدبن عبدالرزاق په‌نامه دپارسی ژبی په ساده او روانو اوسوچه او خالصو الفاظو د ابومنصور المعمری په قلم لیکلې شوې ده .

بل اثر دطبری د تاریخ او تفسیر تر جمه ده ، چه د واړه جعفر محمد بن‌جریر طبری‌مقتول په(٣٥١ه ق) کښی په عربی ژبه تالیف کړی‌دی، چه‌تاریخ یی‌په٣٥٦ کښی عبدالملك بن‌نوح اوتفسیریی د ماوراءالنهر یو کره عالم دتاریخ‌طبری له ترجمی څخه‌وروسته یاړومبی په‌ږېرزیات فصاحت اوسلاست‌سره دمنصور بن نوح سامانی په امر ترجمه کړی‌دی . بل‌اثر (حدود العالم من‌المشرق الی‌المغرب) دی‌چه‌په٣٧٢ هجری کښی دعلم جغرافیه په فن کښی دامیر ابو الحارث محمد بن‌احمد بن فریغون دباره په افغا نستان کښی لیکل شوی دی . بل د ابو المؤید بلخی (عجایب البلدان) دی او دموفق‌الدین ابو منصو ر علی هروی دالابنته عن‌حقایق الادویه کتاب‌دی بل دمحمد بن ایوب طبری رسالهٔ استخراج او رسالهٔ شش‌فصل‌دی ، چه دنجوم په‌علم کښی لیکلی شوی دی .

دوهمه دوره : همهغه دغزنویانو اوداولو سلجوقیانو دوره ده، چه‌دپنځمی پیړۍ له‌نیمائی څخه شروع کیږی او دشیږمی پیړۍ په‌نیمائی کښی‌پای ته‌رسیږی . ددغی‌دوری‌غوره اومشهور آثار دابوالفضل بیهقی تاریخ بیهقی‌دی(٤٤٨ه ق) چه‌نوموړی دغزنویانو په‌دربار کښی‌دبیر رسائلو. اوتاریخ بیهقی‌دابوالحسن علی‌بن‌زید تالیف‌دی بل دتاریخ بخارا کتاب‌دی دابونصر احمد عبادی‌ترجمه په (٥٢٢ه) کښی دابوبکر محمد دمؤلفی له عربی متن څخه دسامانیانو په وخت کښی بل سیاستنامهٔ نظام‌الملك‌دی د(٤٨٤ په‌خواو شاکی) بل‌قابوس‌نامهٔ عنصرالمعالی کیکا وس دی په (٤٧٥ه ق) کی . بل دحجةالاسلام محمد غزالی کیمیای سعادت‌دی د(پنځمی‌پیړۍ په‌آخر وختو) کښی . بل دابوالمعالی نصرالله بن‌محمد کلیله دمنه دی په (شیږمه پیړۍ) کښی . بل دابوالحسن‌نظام‌الدین نظامی عروضی سمرقندی چهار مقاله‌دی په(٥٥٠ه) کښی. بل‌مجمل التواریخ‌والقصص‌دی‌په(٦٢٠ه) کی . او تاریخ سیستان دی ، اونور داسی آثار چه تول په‌خورا ښه اوښایسته نثر سره‌لیکلی‌شوی دی .

له‌دغو آثارو څخه څینی په قدیمی اسلوب لیکلی شوی‌چه دسامانی‌دوری دنثرتعقیب‌دی ، لکه‌مجمل‌التواریخ والقصص‌چه‌له سره‌تر پایهٔ پوری د سامانی سبك اوډول‌لری .اوتاریخ سیستان چه‌یوه برخه‌ئی په‌ږېر پخوانی اوزاړه سبك‌لیکلې‌شوې‌ده اوبله برخه‌یی داومی پیړۍ په سبك لیکلې شوې ده . ددغی دورې دآثارو بله برخه دسامانی‌نثر په نسبت لږځه‌فنی معلومیږی چه گویا دتفنن اودکمال دمراحلو په‌لار کښی دی ، لکه دمحمدبن منور د شیخ دلمسی د مؤلفی د اسرار التوحید فی مقامات شیخ ابوسعید ابوالخیر دکتاب نثر .

ددغه عصر د آثارو در یمه برخه چه تریوې اندازی لفظی اقتدارته متوجه دی تریوې اندازې پوری په هغو کښی تفنن او صنعت لار موند لې ده . داډله آ ثار زیات د لفظی ښایست او تکلف خواته تللی‌دی اوفنی او عالی جنبه‌لری ددې‌ډول آثارو غوره نمونه تاریخ بیهقی اوکلیله دمنه‌دی .

دسا مانیانو دنثر په خلاف دبیهقی دنثرخواص یو اطناب‌دی چه‌دهغه په‌جملو کښی لیدل کیږی ، لکه چه‌په‌سامانی‌نثر کښی به‌جملی ږېری لنډی لیکلې کیدی، خو دبیهقی په‌نثر کښی‌اوږدی

او درازی لیکلی شوی دی . بل تو صیف دی‌چه پخوا به‌وصف شاعرانه جنبه کمه‌لرله او په ډیر اختصار او کوتاهی سره‌به‌یی مطلب اداکاؤ . سره له‌دې چه بیهقی دنویو او تازه اصطلا حاتو په‌راوړلو سره‌مطلب یوه‌اندازه شاعرانه بنکاره کړی او منظره یی روانه ده .

گواکی موضوع یی‌داسی لیکلی‌ده چه‌دواقعی به مقابل کی لوستونکی ته‌ځای‌ور کوی . بل‌داچه داستشهاد او تمثیل په‌ډول یی‌ځینی حکایتونه اومثالونه اواشعار راوړی‌دی، چه بیهقی‌په‌خپل تاریخ کښی په هغه شروع کړې ده . به‌کلیله دمنه اونور داسی آثارو کی‌افراط شوی دی . خلاف له پخوانو آ ثارو څخه چه دافعالو او الفاظو تکراریی په‌هغو کښی روا ګانړه ، اودبیهقی په‌تاریخ کی دقرینی په واسطه دهغو حذف لازم ګڼل‌شوی‌دی .

ابوالمعالی نصرالله دکلیله‌دمنه دسبك په‌لیکلو کښی دبیهقی په‌نسبت‌یو ګام وړاندی تللی‌دی ، خپل اثریی مصنع او په زیات تکلف لیکلی دی، یعنی که دبیهقی تاریخ ددې ډلی لیکنی په‌مخ کښی وبولو نو کلیله د منه دهغه پای او تعقیب ګڼل کیږی . دمترادفو الفاظو راوړل چه په حقیقت کی نثر د سجع خواته او پر متوازنو قطعاتو باندی دتقسیم خواته کشوی په کلیله دمنه کی‌زیات لیدل کیږی ، خوسره له‌هغه‌هم دکلیله دمنه په نثر کښی که‌څه‌هم به‌ظاهر کی‌دلفظ خواته توجه‌راغلې‌ده خو دمعنامراعات یکښی شوی‌دی اوسجع‌هم لږه په‌هغه کی لیدله کیږی. آیاتونه حدیثونه ، عربی اوفارسی اشعار دتمثیل او استشهاد په‌ډول‌سره په‌هغی کی راغلی دی .

دریمه دوره : ددوهمو سلجو قیانو پاخوارزم‌شاهانو یادغی نثر دوره ده چه دشیږمی پیړۍ له‌نیمائی څخه شروع اوداومی پیړۍ تراخیرو وختو پوری‌رسیږی . دد غی دورې نثر لکه‌چه له‌نامه څخه‌یی څر ګندیږی نثرمصنع اوتکلفی‌دی چه‌په پخوانو دورو کښی دهغه نظیر نه‌پیدا کیږی .

ددغی دوری په زیاتو آثارو کښی‌برته له‌علمی آثارو څخه لکه‌فلسفه اوتصوف چه تریوې اندازی یی‌خپل‌سلاست اوسادګی ساتلی‌دی ، نورنقلی اووصفی آثاریی تول مشکل،مبهم اومغلق لیکل‌شوی‌دی ،په‌دې ډله آ ثارو کی لفظ پرمعنابانډی حاکم او معنا دلفظ خادمه ده ، سجع، توازن، ترادف او تقارن په‌لوړه اندازه په نثر کی څرګند شوی‌دی ، اوهغه پر متوازنو قطعاتو باندی تقسیم کوی . او عربی کلمی چه دمثال ویلو او قرینی جوړولو دپاره استخدام او پارسی ژبی ته‌راغلی‌دی په‌سلو کښی شپیتو اوکله په سلو کښی اتیاوته رسیږی ، پارسی‌اصطلاحاتی پری اینی‌شوی او دهغو ځای عربی نیولی‌دی . په‌ډله آثارو کی لفظی پیوستګی په داسی اندازه دی چه‌کوم جملو څخه‌یوبا دوه لفظه لیری کړواودهغو پرځای دهغو مترادف الفاظ راوړو نود موضوع لفظی اومعنوی‌رابطه خرابیږی دآیتو اواحادیثو اوامثله اوحکمو په استشهاد کښی هم‌دا پیوستګی مشهوره ده، ملك‌الشعراء بهار وایی: چه‌دنثر دفساد مقدمه په‌دغه دوره کښی شروع کیږی دبی لاطائل تطویلاتو اودبی مغزو عباراتو عامه بلاهم له‌دغی زمانی څخه دپارسی‌پرنثرسردانازلیږی .

ددې ډول آثارو خوراغوره نمونه دقاضی حمیدالدین عمر بن محمود المحمودی بلخی مقامات دی ، نوموړی قاضی په ۵۵۹ هجری‌قمری کی‌وفات شوی‌دی ، نوموړی قاضی‌حمیدالدین خپل مقامات دبدیع الزمان ابوالفضل احمد بن‌الحسین بن یحی همدانی (۳۵۸ ـ ۳۹۸) دمقامات په پیروی اود ابو محمدقاسم بن علی‌الحریر (٤٦٤ ـ ٥١٦) د مقامات په‌پیروی لیکلی دی . بل دسعدالدین وراینی مرزبان‌نامه ده چه‌داومی پیړۍ په‌اولو وختو کښی لیکل شوې‌ده ، اودفن دکمال اود اسلوب د قدرت اود تعبیراتو دښایست له کبله دصنعت اوتفنن په کثرت اوډیر والی سره امتیاز لری . اودبهاءالدین محمد بن مؤید بغدادی دعلاء الدین‌تکش‌خوارزمشاه(۵۱۸ـ ۵۹٦)دامتوسل‌الی‌الترسل کتاب دی چه‌ددغی ډلی آثارو له جملی څخه ګڼل کیږی ، په‌دې اثر کښی زیات کوشش شوی دی چه دپارسی لغاتو او اصطلاحاتو برځای عربی اصطلاحات اوکلمی په‌کار کړشوی‌دی لکه چه‌پخوا وویل شوو په‌سلو کی شپیته او کله‌کله به‌سلو کی اتیا عربی لغتونه په‌هغه کښی استعمال شوی‌دی .

په شپږمه اواومه پیړۍ کښی به لیکونکی زیات دالفاظو په‌تناسب‌اطناب ، سجع اوازدواج دآیاتو او احادیثو اشعارو او امثلهؤ اقتباس کړی‌دی،چه‌دلفظی اومعنوی کیفیت له‌نقطه‌نظره یی دې شیانو ته‌توجه کړې ده .

څلرمه دوره : چه دعراقی سبك دوره بلله کیږی چه هغه دصنعتی نثر دوره هم بولی چه د اومی پیړۍ له اخیرو وختو شروع‌شوې‌او ددیارلسمی پیړۍ تر پایه پوری دوام کوی ددې دورې دآثارو شرګنده نمونه د عطاملك جوینی مؤلفه تاریخ جهان کشادی (٦٢٣ ـ ٦٨١) اوادیب عبدالله شیرازی تاریخ اوصاف دی. بل‌دنورالدین محمد عوفی لباب الالباب‌دی چه‌به ٦١٨ه کی‌لیکلی‌دی . اود دغو ډول آثارو پـه‌باب کی‌به پخیل ځای کښی بیان و کړو .

پنځمه‌دوره : چه له دیارلسمی‌پیړۍ‌څخه شروع کیږی اوتر هغه لسمی پیړۍ پوری دوام کوی د پرته ادبی را ګرزیدو دوره ورته ویله کیږی. ددې دورې دآثارو له‌جملی څخه منشأت قایمقام . نانشو ران ، روضة الصفا ناصری ، مجمع الفصحا او نوردی .

شپږمه یاد ساده نویسی‌دوره ده ، چه‌له هغه لسمی پیړۍ څخه تراوسه پوری دوام کوی .

دادی اوس هغه آثار بیانووچه په دې دوره کښې لیکل شوی دی

(۱) لکه قراضهٔ طبیعیات ، په دې نامه بوعلی هم یو اثر ړی چه د حکمت طبیعی په موضوع کښې یی تالیف کړی دی اودا اثر دښځمی هجری پیړۍ په منځ کښې د ابو نصر محمد بن محمد فاینی له خوا چه په مناح معروف ؤ ، د حکمت په موضوع کی په فصیحه فارسی لیکل شوی دی .

۲ ـ زیج سنجری دا کتاب د پنځمی پیړۍ په منځ کښې لیکل شوی دی دا اثر عبدالرحمن خازنی د سلطان سنجر سلجوقی په نامه لیکلی دی .

۳ ـ مناجات نامه: دا کتاب د خواجه عبدالله بن محمد انصاری هروی له تالیفاتو څخه دی ، ددې اثر نثر د پارسی ژبی دمسجعو د پرو پخوانو نثرو څخه دی ، چه د عرفان او تصوف په موضوع کښې په مخصوص سبك سره لیکل شوی دی .

٤ ـ المصادر : دا کتاب د عربی یو فرهنګ دی په پارسی چه د قاضی ابو عبدالله حسین بن محمد زوزنی له خوا لیکل شوی دی دهغه مؤلف په (٤٨٦) هجری قمری کی وفات شوی دی .

٥ ـ بیان الادیان : دا اثر د رومبنی کتاب دی چه د مختلفو مذهبو په موضوع کی په فارسی لیکل شوی دی دهغه مؤلف امام ابوالمعالی محمد بن عبدالله علوی غزنوی دی چه په ٤٨٥ هجری کی هغه تمام کړی دی .

٦ ـ کیهان شناخت : دا اثر د نجوم او علم هیئت په موضوع کې د فارسی ژبی د پیر پخوانی اثر دی چه په ٤٩٨ هجری قمری د عین الزمان امام ابوعلی حسن بن قطان مروزی له خوا تالیف شوی دی .

۷ ـ نصیحة الملوك : داداسی یو اثر دی چه ابو حامد محمد بن محمد بن غیاث الدین ابو شجاع احمد غزالی د سلطان محمد بن ملکشاه سلجوقی په نامه په ٤٩٩ هجری قمری کښې لیکلی دی ، ددې کتاب موضوع عملی حکمت دی او د دیو برخو کښې تهذیب اخلاق ، سیاست مدن او تدبیر منزل ، او پر یوه مقدمه او اوو بابو باندی مشتمل دی . دغزالی یو بل اثر چه دهغه نوم منځ ته نه دی راغلی ، یوستر مکتوب دی چه د پندنامی په نامه د محمد بن ملکشاه دپاره لیکل شوی دی .

۸ ـ قصص الانبیاء: دا کتاب د ابومحمد عبدالعزیز بن عثمان حبری له تکملة اللطائف نومی کتاب څخه یوه ترجمه ده چه په پنځمه هجری پیړۍ کښې احمد بن منصور خجستی هغه ترجمه کړی دی .

۹ ـ ترجمهٔ صورالاقالیم یامسالك و ممالك : دا د جغرافیی په فن کښې یو کتاب دی چه په اصل کښې په ځلومه هجری پیړۍ کښې په عربی لیکل شوی ؤ ،اومؤلف یی ابو اسحق ابراهیم بن محمد اصطخری دی وروسته بیا په روانه اوسلیسه فارسی ترجمه شوی دی او ترجمه یی تر اوسه نه دی معلوم .

۱۰ ـ السوانح فی معانی العشق دی : دا کتاب د غزالی کوچنی ورور ابوالفتوح احمد د عین القضات همدانی په غوښتنه د تصوف په موضوع کښې په ښه خوږه ژبه لیکلی دی .

۱۱ ـ سراج السائرین دی : دا کتاب په (٥٠٣ه ق) کښې د تصوف په موضوع کښې لیکل شوی دی ، دهغه مؤلف ابو نصر احمد بن ابوالحسن نامقی جامی دی .

۱۲ ـ تاریخ بخارا : دا کتاب اول د ابوبکر محمد بن جعفر نرشخی له خوا په ۳۳۲ کی د نوح بن نصر سامانی دپاره په تازی ژبه لیکل شوی ؤ ، بیا په ٥۲۲ ه کال هغه ابو نصر احمد قبادی په فصیحه فارسی ترجمه کړ .

۱۳ ـ حدائق السحرفی دقائق الشعر دی : دا کتاب په علم بدیع کښې لیکل شوی دی اود رادیانی له ترجمان البلاغه څخه وروسته د بدیع په صنعت کښې دارومبنی اثر دی چه په پارسی ژبه لیکل شوی دی . چه د ٥۳۰ هجری په خواو شاکی د آتسز خوارزمشاه په غوښتنه سره رشیدالدین وطواط هغه لیکلی دی .

۱٤ ـ چهارمقاله عروضی سمرقندی: دابوالحسن نظام الدین نظامی عروضی سمرقند تالیف دی ، چه د شاعری ، د بیری ، نجوم اوطب په باب کښې ځلور مقالی دی . د هغه اصلی نوم مجمع النوادر ؤ . چه د ابوالحسن حسام الدین علی غوری شاهزاده اوحکمران په نامه په ٥۰۰ یا ٥٥۲ هجری کښې تالیف شوی دی دا اثر د پارسی ژبی له خورا سلیسو اوښایسته نثرو څخه ګڼل کیږی.

۱٥ ـ کلیله دمنه دی: دا اثر په اصل کښې په سانسکریت ژبه په هند کښې لیکلی شوی ؤ ، اودا د نوشیروان په زمانه کښې د برزویه نومی طبیب په واسطه ایران ته راوړل شو ، او په پهلوی ژبه ترجمه شو ، عبدالله بن مقفع هغه اثر د هجرت په دوهمه پیړۍ کښې په عربی را واړه اوو ، اوهم په هغه ژبه نظم شو ، بیا نو د امیر نصر بن احمد په عصر کښې رودکی هغه په پارسی نظم کی ، دغزنوی بهرامشاه په زمانه کښې د نصرالدین بن عبدالحمید له خوا چه د غزنوی دربار منشی ؤ ، د عبدالله بن مقفع له کتاب څخه له خورا فصیح نثر په پارسی تر جمه شو چه تر نن روځی پوری د بهرامشاهی په ( کلیله دمنه ) باندی شهرت لری .

۱٦ ـ د بخارا د تاریخ لنډه ترجمه : د بخارا د تاریخ ترجمه د محمد ظفر بن عمر په واسطه ( ٥۷٤ هجری په حدود کښې تلخیص شوه ، له هغه وخت څخه وروسته ، نوموړی اثر په ( مختصر رقیمهٔ تاریخ بخارا ) مشهور شوی دی .

۱۷ ـ خوارز مشاهی ذخیره : مؤلف ئی زین الدین ، ابو ابراهیم اسمعیل بن حسن جرجانی دی د شپیزمی هجری پیړۍ په لومړیو سر کښې یې د ابوالفتح قطب الدین محمد خوارزمشاه په نامه تالیف کړیدی .

داکتاب ددواګانو ، زهر یاتو ، پول پول نارو غتیاؤ اودهغو دتشخیص په باره کښی لیکل شویدی .

۱۸- عقبةالمکتبه : دعلی بن احمدالکاتب تالیف دی او نوموړی په منتخب الدین بدیع اتابك المجوینی ملقب اود سلجوقی سلطان سنجر درسائلو دبیر ؤ، چه دهغه سلطان په زمانه کښی ترتیب شوی دی، دا اثر دمکاتباتو، اودسنجر د زمانی د رسائلو مجموعه اودهغې زمانی یوه ستره تاریخی خزانه ده چه دامیرانو حکامو، وزیرانو، اونورو لویانو په باره کښی بشپړ معلومات ورکوی .

۱۹ - رسالهٔ لغت موران : یو اثردی چه په خورا فصیح پارسی دعرفانی حقایقو په خصوص کښی دشپږمی هجری قمری پیړۍ په منځ کښی لیکل شوی دی مولف ئی ابوالفتوح په شهاب الدین یحیی بن حبش بن امیرك سهراوردی، په شهاب الدین مقتول سره معروف دی .

۲۰ - مقامات حمیدی : داکتاب یواثردی چه ۲۳ مقالو څخه ترکیب شویدی اودادبی مطالبو، مناظراتو، او خوږو خبرو په باره کښی بحث کوی ددې اثر نثر د خواجه عبدالله انصاری له مسجع نثر څخه وروسته، دپارسی ژبی له خورا پخوانو مسجعو نثرونو څخه ګڼل کیږی چه د مقامات حریری ، او بدیع الزمان همدانی دنثر په سبك لیکل شوی دی مولف ئی قاضی حمیدالدین بلخی دی .

۲۱ - التوصل الی الترسل : دبهاالدین محمد بن المؤید بغدادی، تالیف دی چه دعلاءالدین تکش خوارزمشاه دبیر او منشی ؤ، داکتاب دتاریخی پیښو اودهغه عصر له کانو وانو څخه جوړ شویدی، اود (۵۸۰ هـ ق ) په شا و خوا کښی لیکل شوی دی، خورا عالی اوغوره انشاء لری .

۲۲ - جامع العلوم : چه دحدائق الانوار، فی حقائق الاسرار » په نامه معروف دی، مولف ئی محمد بن عمر بن حسین بن علی طبری دی چه په ( فخرالدین رازی )ملقب اوبه (امام فخررازی) معروف دی داکتاب دعصر د شپیتو متد اوله علو مو په تعریف مشتمل، او په ( ۵۹۱ه ، ق ) دسلطان تکش خوارزمشاه په اشارت تالیف شوی دی ددې ستر سړی نور اثار تعجیز الفلاسفه، ترجمهٔ اسرارالتنزیل ، اختیارات العلائیه فی احکام السماو یه دی .

۲۳ - ترجمهٔ فتوح : داکتاب لومړیۍ په ۲۰۴ه خواجه احمد بن اعثم کوفی په عربی تالیف کړی پس له هغه رضی الدین محمد بن ابی بکر بن احمد په رضی الکاتب ملقب د خوارزمشاه دوزیر قوام الدین په امر د۵۹۶ه ق کال په حدودو کښی ترجمه کړ، هرکله چه دنوموړی عمر وفاونه کوله، پاته برخه ئی دهباغه وزیر په امر احمد بن محمد بن ابی بکر مایتر بادی پای ته ورسوله نوموړی اثر داخبار حکایتو نه او احادیث لرې چه په خورا بلیغ اوساده بی تکلفه پارسی نثر سره لیکل شوی دی .

۲۴ - گزیده : یو کتاب دی دتصوف په موضوع کښی مولف ئی شیخ الاسلام ابونصر بن طاهر بن عمر سرخسی دی چه دشپږمی پیړۍ دسترو متصوفینو له جملی څخه ګڼل شوی دی.

۲۵ - مقصد اقصی : داپارسی رساله دتصوف په تعبیراتو ، اواصطلاحاتو باندې مشتمله ده، مولف ئی شیخ عزیز الدین نسفی دی چه دشپږمی پیړۍ له عارفانو څخه ګڼل کیږی ، نور تالیفونه ئی عبادت دی له « اصول ، فروع ، مبداء ومعاد منازل السائرین» کشف الحقایق ، زبدة الحقایق ، ترقی روح انسانی اونورو څخه ...

۲۶ - روضة الجنان وروح الجنان : دقرآن کریم تفسیردی په پارسی ژبه چه پنځه جلدو نه لری ، دجمال الدین ابوالفتوح حسین بن علی بن محمد بن احمد بن حسین بن احمدرازی تالیف دی دا، اثر دابوالفتوح رازی، په تفسیر باندی معروف دی چه دشپږمی هجری پیړۍ په منځ کښی تمام شوی .

۲۷ - راحة الصدور، وآیة السرور : داکتاب د سلجوقیانو دتاریخ په موضوع لیکل شوی او دهغوی پیښې، له شروع څخه تراخره پوری چه دخوارزمشاهیانو په لاس منقرض شوو ، پکښی لیکل شویدی .

ددې کتاب کښی سربیره پردې چه تاریخی حوادث ، او دشاعرانو، دعصر دلیکوالو، ادیبانو شرح حال پکښی راغلی دی ددوی قصیدی، اشعار، اوامثال هم ذکر شویدی مولف ئی نجم الدین ابوبکر محمد، بن علی بن سلطان بن محمد بن احمد بن حسین بن همت راوندی دی، د شفق دلیکنی په قرار ، ددې اثر مولف خپل کتاب په ( ۶۰۳ هجری ) کال دکیخسرو بن قلیج ارسلان حضور ته چه دروم له سلجوقیانو څخه ؤ ، اهدا کړیدی ، ددی کتاب تالیف په ۵۹۹ هجری کال صورت میندلیدی .

دمغلو ظهور اودپارسی پر ادب باندی د هغوی تاثیر : مغل یو کیږدی والاکام ؤ چه لومړی ځل ئی دشرقی ترکستان په ملك کښی حکومت جوړ کی ، دغو قبا ئلو دچنګیز خان په مشر توب، د۶۱۶ هجری کلو په حدودو کښی له مغلستان څخه لحان ماوراءالنهر ته ورا ورساؤ ، په ددې وخت کښی سلطان محمد خوارزمشاه په ماوراءالنهر خراسان او شمالی هند باندې حکمرانی کوله، سلطان محمد ، دخپل ملك دبراخوالی په هیله (کوچلك) دنیما ئیانو دطایفی شهزاده، چه دچنګیز خان له لاس څخه ئی دقراختائیانو در بار ته تیښته را کړی وه، بغیله دقراختائیا نو پر علیه تحریك کړ، اودقراختا یانو حکومت ئی د(کوچلك) په ذریعه وغورزا وو، اوله منځه ئی یووړ ،

وروسته دفراختائیانو دحکومت له سقوط څخه چه مملکتی دسلطان محمد او چنګیز خان دمملکتو په مابین کښی حد فاصل ؤ، دا دواړه سترهیوادونه یوله بله سره ګاونډیان (همسرحد) شول دمغولو کام په ٦١٨ه کال کښی دامولە دریاب څخه‌دې خواته راپور یووت محمد خوارزمشاه‌ئی دمقابلې تاب رانه‌ؤړ اوترې وتښتېدی، ترڅو چه‌د(ابسکون) په جزیره کښی مړشو، دمحمدخوارزمشاه توربالی زوی جلال‌الدین‌خوارزمشاه دمغولو دجګړو له‌پاره ځان چمتو کړ، اودمحمد خوارزمشاه دې زړور، زوی دمغلو په‌جګړو کښی له ځانه فوق العاده شجاعت څرګندکړ اوڅوپلاټی دمغلو لښکرې سپی اوپرځت وز غلولی خوبیاهم دغه زړه ور پاچاهم ونه‌شوای کړای چه‌ددې خونړی سیلاب مخه ونیسی، په‌نتیجه کښی به شاولاړ اوتدریجا مانی ته اړشو، ترڅو چه تول‌نن‌ورځینی‌افغانستان د مغلانو لاسته ورغی اوجلال الدین دهند لورته فراری شو، په یوه روایت سره جلال‌الدین په٦٢٨کال هوری ووژل شو، اوپه‌بل روایت‌ده‌ځان په‌اباسیند کښی غرق کړ‌په‌هرحال چه‌ؤ، دجلال‌الدین خوارزمشاه په مرګ دخوارزمشاهانو سلسله له منځه ولاړه اوپایته ورسېده دمغلو‌بیابانی کام هرځای چه دخیل ځان د پرمخ تګ په‌مقابل کښی به‌ئی مقاومت ولید، وګړی اودهغو تاتوبی‌به‌ئی په‌وینو ولاړه، بلخ، بامیان، طالقان ته‌ئی اوروچاؤ؛ غزنی قندهار اوګردیزئی وران کړل، دمغلانو بېرانیږ، چیاؤ غارتګریو، تر٦٢٤ هجری کال پوری چه دچنګیز د مړینی کال دی، ادامه ومیندله ترچنګیز وروسته دهغه پراخ اولوی مملکت دده دزامنو په‌منځ کښی سره ووېشل شو، ماوراء النهر بلخ بدخشان اوغزنی چه زمونږ بحث موضوع زیاتره ګرزیدلی ده دچنګیزدوهم زوی چغتای ته په لاس ورغلل دې کور نیږ ١٤٦کاله حکومت وکړ، ترڅوچه په٧٧١هجری‌کال دامیر تیمور په‌لاس منقرض شوه دمغلو هجوم یو لهغی تاریخی‌اوسترو څیړو څخه‌دی چه‌دعلم، پوهی اوددې هیواد، دادب‌پرمخ وارده شوه پدې‌څېړه خلق له‌زاړه اوڅوانه نیولی ترنراوښځو عامی، عالم بی‌هنر،اوهنرلرونکی پوری، په قتل ورسېدل؛ کتا بخانې مدرسی، مسجدونه، مانیږ ښارونه کوټګی‌اوقلاګانی اونورې ودانیږ ورانی شوی، یوه برخه له پوهانو، لیکوالو، فضلاؤ څخه په خو را بدکیفیت ووژل‌شوو، او بقیة السیف ورك اوفرار شول.

سره له دې سترې فتنې او تخریباتو چه‌دلته واقع شوو علم او ادب ګرد سره ورك نشو، بلکه ورو، ورویوه یوه ډله پوهانو اومشهورو ادیبانو سرله ګوښو، او ځرمو، ځور ګوڅخه راویست اوبله پلاټی‌هم دعلم اوعرفان په ترویج ګوتی پوری کړی، بالخاصه دتاریخ اوتاریخ نویسیږ فن به‌دې دوره کښی بل‌ډول رونق بیاموند، او بشپړ پراخوالی یی پیدا کړ پدې دوره کښی لکه جوینی عطا ملك دجهانګشا دتاریخ لیکوال، اوقاضی منهاج السراج جوزجانی د طبقات ناصری مولف غوند فاضلان په‌دغه‌دوره کښی څرګند شویدی، دمغلو کورنیږ په‌لومړی سر کښی که‌څه‌هم وحشیان‌اودینی زېښو نکی خلق وو، اما وروسته دمتمدنو خلقو دتماس په وجه مالوف اوددې هیواد، دخلقو دفکرونو په‌اثرئی خیل‌ماهیت ته نغېر ورکړ اووحشیانه خویونه بدوی عادات ئی پرېښودل، هغوی داسلامی تمدن، اوددې پخوانی هواد، دخلقو له خوی اودینی عاداتو سره آشنائی پیدا کړه؛ دوی‌هم دعلم او کمال په زده کړه پیل‌وکړ، حتی ځینی‌یی‌دفضل‌او کمال خاوندان‌وګرزېدل نودمغلو په‌عصر کښی له‌هغو ظلمونو استبداد سره‌هم ددې‌هیواد دخلقو فطری استعداد اوذوق له کاره نه‌دی ولیدلی، شاعران اونامتولیکوال په‌ملت کښی پیدا شوی‌دی ددې طبیعی دورې له‌سترواديی پېښو څخه، یوه پېښه هم دپارسی ژبی پراختیا ده چه‌له خراسان څخه دباندې‌ئی هم انتشار ومینده؛ ځکه چه دمغولانو دظلم او استبداد له کبله دخراسان ځینی ستر پوهان اودادب خاوندان هرپلوته ولاړل اوهورې ئې په نویو ځایو کښی علم او ادب ته‌ترقی ورکړه، او ددری ژبی آثارئی له‌ځانه څرګند کړل؛ لدې کبله پارسی ژبه لومړی په‌هند کښی پراخه شوه، اوبیائی په کوچنیږ آسیا کښی خورا تودبازار بیاموند؛ پدې لحاظ سره دمغلو په دوره کښی دپارسی ژبی دانتشار لپاره ډېر خدمت او زیار اېستل شویدی بل‌هغه سترادبی کار چه‌پدې دوره کښی منځ ته راغلی دی دصنعتی غیرطبیعی نثر دوجود موضوع‌ده چه‌دپارسی ژبی په‌ادب کښی مروج‌شو، داخل هغه‌ساده او دپارسی پخوانی نثرمتروك اودلفاظی اوتکلف بازار تود شو، شاعرانو خیل احساسات داستعاري، مجاز، اوکنایې په توګه ادا کول عبارت پردازی دکمال درجی ته ورسېده، عربی غامضی کلمی مروجی شوې حشوې، بیځایه مبالغې‌پرې‌شوی.

بله‌ستره ادبی پېښه چه‌دامهال منځ‌ته راغله داوه چه‌تصوف په‌خورا قوت اوقدرت سره د پارسی په اشعارو کښی داخل شو عرفانی اشعار په خورا ښه او لطیف صورت سره، پیدا شول شاعرانو دنظم له اقسامو څخه یوالهی غزل ددې مقصد لپاره په کار واچاوو له‌مشهورو شاعرانو لکه سعدی عراقی، مولانا بلخی، امیرخسرو بلخی‌دهلوی، خواجه حافظ اودهغوی امثالو ظهورو کړ، دادی لاندی دهغو شاعرانو په یادولو پیل کوو، چه‌ددې عصردمغلو له‌اړو دور څخه تبتبدلی‌دی، اوپه هند کښی دهغه‌لحای دغوری پاچاهانو یانورو شرقی مملکتو دربارته‌ئی پناه وروړی اودعلم اوادب ډېوه‌ئی لګولی‌ده:

نورالدین محمدعوفی: نوم ئی نور الدین ، محمد بن محمد بن عیسی بن طاهر، بن عثمان العوفی دی دی په اصل کښی دبخاراوو مګر زیاتره په خراسان خوارزم ، نیشاپور او هرات کښی ګرزېدلی سیستان ، غزنی، هندته ورغلی اودډېرو پوهانو لیکوالو په صحبت مشرف شوی، له هره ځایه څخه ئی د پوهنو اوعلومو کسب کړیدی ؟ عوفی لومړی پلادخپل ماما په واسطه سیدالحکما د(قلیج ارسلان) خدمت ته ورغی، اوتر پنځو کلو وروسته دهغه له خدمت څخه جلا شویدی، او په ۶۰۷ هجری کال دناصرالدین قباجه خدمت ته رسېدلی بالخاصه دهغه له وزیر سره چه امیرالملك فخرالدین حسین بن شرف الملك ئی نوم ؤ، آشنا شوی اوبه عزت سره ئی ژوند تېر کړیدی .

هغه مهال چه شمس الدین التمش په (اجد) دناصرالدین قباجه په پای تخت پاندی حمله ور وړی اوهغه ئی محاصره کړیدی ، ناصرالدین دمقاومت توان نه دی لرلی، نوله هغه ځایه فرارشوی د(بهك) حصار ته ئی پناه وړ ئی ده، بیا نو نظام الدین جنیدی دالتمش وزیر آخر نیږ قلاهم محاصره کړی، نوعوفی چه دمحصورینو په ډله کښی وو، نظام الملك ته ئی د تابعیت عرض وړاندی کړ، اوخپل کتاب جامع الحکایات ولوامع الروایات ئی چه دناصرالدین قباجه په نامه ئی تالیف کړی وو، هغه ئی، دنظام الملك جنیدی په نامه معنون کړ، عوفی دلباب الالباب تذکره د(۶۰۷-۶۲۵ھ) کلو په منځ کښی د ناصرالدن په دربار کی لیکلی ده، خوددې دزیږیدلو، او وفات نېټه په صحیح ډول معلومه نشوه، خو بیته دعوفی له قصیدی څخه چه هغه ئی د عین الملك دسلطان التمش دوزیر په مدح کښی ویلیده ، لاندی اقتباس شو :

توانگرم بر خ واشك زان بر سیمین
که شدزفرقت توچون زرآن وچون سیم این
چوخاتم است د هان توپس سلیمان وار
زما نه گشت از ین خاتمت بزیر نگین
گذشت نالهٔ من در فراق طلعت تو
چو قدر صدر جهان از فرا ز چرخ بر بن
چو باد ناصح قدرش بر آمده بفلك
چو آب حاصل جا هش فرو شده بزمین
خیال مد حت او در ضمیر اهل سخن
ستوده تر ز نشاط است در دل غمگین

شمس الدین محمد بلخی : نوم ئی محمداولقب یی شمس الدین دی، دعین الملك وزیر مداح ؤ، چه له عوفی سره خصوصیت اوددوستی رابطه درلوده ، بنا په هغه مهارت چه په حسن خط کښی درلود، په کاتب بلخی سره هم شهرت لری. ده دعین الملك وزیر په مدح کښی یوه قصیده و یلی ده چه خو بیته ئی دادی :

ای لب لعلت مزاج آب حیوان یافته
برجهان د لبری حسن تو فرمان یافته
روزعید از گرد یکرانت مشام عاشقان
نگهت مشك تتار از گرد میدان یافته
خال زنگی چهره را بر لعل جان بخشدخرد
نقطهٔ از کفر برر خسار ایمان یافته
در دریای ملاحت صورت زیبای تو
اشکم اندرعشق خودهمر نگ مرجان یافته

قاضی شمس الدین طبسی : نوم ئی شمس الدین محمد بن عبدالکریم، دطبس دقاضی زاد ګانوله جملې څخه ؤ، په هرات کښی لوی شوی دی، خط ئی خورابنه لیکه اوښه اشعار یې جوړول قاضو دسلطان العلما، صدرالشر یعه بخاری سره معاصر ؤ، یوله بله سره به ئی خبری اتری کولی ، د صدرالدو له نظام الملك دجلال الدین دوزیر ندیم او ملګری ؤ ، ډېری مهر بانیږ او عنایات ئی له هغه څخه لیدلی دی . قاضی هم دده په مدح کښی ډېری قصیدی لری ، دا دده له قصیدې څخه دنظام الملك په مدح کښی دی :

خیزای گرفته روی گل از عارض توخوی
تا باغ عمر تازه کنم از نسیم می
بر خنده دار صبحد م از می لب طرب
تا کی دم ز ما نه خوری چون دهان نی

☆ ☆ ☆

قاضی دیوان هم لری چه هدایت هغه لیدلی اوبه ۲ زره بیته مشتمل دی، اودفریدون میرزاله کتابخانی څخه چه دفارس والی ؤ، دده لاس ته ورغلی ؤ، قاضی په ۶۲۴ هجری کال په هرات کښی وفات شویدی،واله داغستانی پخپل ریاض الشعرا کښی د نوموړی خو لاندینی بیتونه، یوه مطلع، اویوه مخلور یځه (رباعی) دده په نامه لیکلی دی :

بیا که دهر زرخسار خود نقاب انداخت
زمانه در سر زلف بنفشه تاب انداخت

☆ ☆ ☆

رو که بکام تو شد مملکت دلبری
عارض گلگون مدار در زره عنبری
تا که زلعل لبت گه بکنم بوسهٔ
نقد روان میدهم گوهر جان بر سری
گر نشدی آشکار معجزهٔ لعل تو
قفل زدی روز گار بر در پیغمبری

سعدالدین هروی : د قاضی شمس الدین طبسی له خیلوانو څخه ؤ، دی د خواجه عزالدین طاهر فریومدی له مداحانو څخه ؤ، چه دچنګیزداولادې په زمانه کښی په خراسان کښی وزیروو،

اودهلا کو په زمانه کښی له وزارت څخه معزول شوی ؤ ، پورنهای جامی دده له شاگردانو څخه و خورا لطیف طبع او نازکخیاله شاعردی، دنوموړی دشاعری قریحه دده له دوو بیتو څخه چه لاندی لیکل شویدی په ښه دودل اندازه کیدایشی :

ببرده روی نگارم زماه تابان گوی
دلم ربود خم زلف او چوچو گان گوی
بتی که گوی زنخدان او بیا ری لب
زلعل نرد ببر دوز آب حیوان گوی

وفات ئی دهدایت اودولت شاه درویتو په قرار په ٦٤٩ هجری کال واقع شویدی . دښځو زرو بیتو په حدودو کښی یې دیوان درلود، دی وائی :

صبح است ای بت گل روی می بیار
تاروح پروریم ازان راح خوشگوار
گه چنگ درزنیم بدان زلف مشك بیز
گه بوسه بر کنیم ازان لعل آب دار

☆ ☆ ☆

پوربهای جامی: دسعیدهروی له شاگردانو څخه ؤ،اصلاً جام دی او په هرات کښی لوی شویدی، دمولانا رکن الدین په بقائی مشهور شاگردی ئی هم کړیده. پوربها دارغون خان په زمانه کښی دخواجه وجیه الدین زنگی بن عزالدین طاهرفریومدی په ملازمت سره ژوندکاوو؛ په شعر کښی خورا مقتدرؤ، دخواجه وجیه الدین په مدح کښی خوراډیری قصیدی لری په یوه قصیده کښی چه دخواجه وجیه الدین په مدح کښی ئې ویلیده ډیر مغلی لغات ئی پکښی استعمال کړیدی چه دی خووا فخر پری کوی او وائی :

هر گز نه گفته اند درین اصطلاح شعر
فردوسی و دقیقی و پندار و عنصری
نشنیده است در عرب و در عجم کسی
ز ینسان قصیده ئی ز معزی و سنجری

دالاندی غزل له مخی هم کیدا یشی چه دده دشعر په مرتبه باندی سړی وپوهیزی :

بر بیاض آفتاب ازشب رقم خواهد کشید
ماه را بر صفحهٔ خوبی قلم خواهد کشید
یارب این یك قطره خونی را که می نامنددل
تابکی از دست مهرویان ستم خواهد کشید
امشب ای شمع از سر بالین بیماران مرو
بیدلی سر در بیابان عدم خواهد کشید
برحذر باش امشب ای همسایهٔ بیت الحزن
کزسرشك چشم من دیوار نم خواهد کشید
میکشد ما را غم محبوب و میداند بها
هر که عاشق شدضرورت بارغم خواهد کشید

☆ ☆ ☆

مولانا جلال الدین بلخی : جلال الدین بن سلطان العلما بهاوالدین بن محمد بن حسین بکری صدیقی الخطیبی دافغانستان د(اوم) قرن له سترو متصوفو شاعرانو څخه یوتن دی . دی په ٦٠٤ هجری کال په بلخ کښی زیږیدلی دی . ابتدائی تعلیمات ئی له خپله پلاره څخه کړی دی . د خپل پلار تروفات وروسته ئی نورلوست په قونیه کښی له سید برهان الدین ترمذی څخه وکړل. او نه پښپړ کلونه ئی له هغه څخه د معرفت کسب کاؤ . په ٦٤٢ هجری کال کښی یی دشیخ رکن الدین سنجابی له یوه مرید سره یعنی له حضرت شمس الدین علی تبریزی دملك داد تبریزی زوی سره چه په شمس تبریز باندی شهرت لری ، ملاقات وکړ. نومولانا ددې حقیقی مجذوب دحال له مشا هدې څخه ، دقال له عالم څخه دحال عالم ته متوجه شو . اودهغه په معنوی نور باندی مین شو. مولانا په دری اوعربی ژبو کښی مقتدر شاعردی . په ترکی ژبه کښی هم اشعار لری . دده مثنوی مولوی معنوی په تصوف کښی خورا لوی تصوفی اثر دی چه په ٢٦ زره بیته لری . همدا ډول دشمس التبریز کلیات اوفیه مافیه هم ددغه بزرگوار اطبعی څخه ترشح کړیدی چه چاپ شوی هم دی . ددی بزرگوار وفات دزیاتره مورخینو په اتفاق په ٦٧٢ هجری کال په قونیه کښی واقع شویدی. دالاندی رباعی اوغزل دمولانا دکلام نمونه ولیکله شوه :

## رباعی

امروز ندانم بچه دست آمده ئی  کزاول بامداد مست آمده ئی
گرخون دلم خوری زدستت ندهم  زیرا که بخون دل بدست آمده ئی

## غزل

آنانکه بسر در طلب کعبه دویدند
چون عاقبت الامر بمقصود رسیدند
از سنگ یکی خانهٔ اعلای مکرم
اندر وسط بدیدند
رفتند درو تا که ببینند خدا را
بسیار بجستند خدا را و نه دیدند
چون معتکف خانه شدند از سرمستی
ناگاه خطابی هم ازان خانه شنیدند
کای خانه پرستان چه پرستید گل وسنگ
آن خانه پرستید که خاصان طلبیدند
خوشوقت کسانیکه چوشمس الحق تبریز
در خانه نشستند بیابان نه بریدند
ای خانهٔ دل خانهٔ حق واحد مطلق
خوشوقت کسانیکه درآن خانه خزیدند

☆ ☆ ☆

(دمولانا جلال الدین بلخی عنوان ته دی رجوع وشی)

سلطان ولد : نومئی بهاؤالدین احمد بن جلال‌الدین محمد بلخی دی . نوموړی په ٦٢٤ هجری کال په کوچنیو آسیا کښی تولد شو چه تر پلار وروسته دهغه دخلافت په مسند کښېناست ده یومثنوی په هغه اسلوب چه دمولانا مثنوی ده «رباب نامی» په اسم په یوه کوښی بحر کښی نظم کړه چه یوه نسخه ئی دکابل په موزیم کښی شته دی داکتاب چه اصلا په پارسی لیکل شویدی، دمستر برون په وینا (له سعدی ترجامی نومی کتاب ۱٦۸ مخ) ٥٦ ترکی بیتونه هم لری، دالاندی رباعی د هغه ده :

گریك ورق از کتاب ما بر خوانی
حیران ابد شوی زهی حیرانی
و ر یکنفسی بسد ر د د ل بنشینی
استا دان را بدرد خود بنشانی

هغسی چه شائع دی، دغه بزرگوار ،دمثنوی شیږم دفتر هم ختم کړیدی ، دوفات نېټه ئی نه ده معلومه داځو بیتونه دده له مثنوی څخه دنمونی په ډول ولیکل شول .

خلق راحق چوساخت درظلمت نور شان ریخت برسراز رحمت
اند ر ا یشان نهاد گو هر ها از صفات قد یم و علم وسخا
تاتو خود ، در صفات او بینی د ر صفتهـا ش ذات ا و بینی
همچو عطا ر گو زهر انبا ر آورد ، در د کـان و در بازار

☆ ☆ ☆

رضی غزنوی : نومئی رضی‌الدین علی‌لالا او دشیخ سعیدبن عبد الجلیل لالای غزنوی زوی دی . دتذکرو لیکو نکی وائی چه شیخ سعید دحضرت حکیم سنائی غزنوی د تره زوی کېده. علی‌لالا دشیخ نجم‌الدین کبری له مریدانو څخه دی . په شعر کښی دخواجه عبدالله انصاری پیروی کوی، داهلوریځی (رباعی) دده دی:

رباعی

هم جان بهز ار دل گر فتار تو است
هم دل بهز ار جان خر یدار تو است
اندر طلبت نه خو اب دارد نه قر ار
هر کس که در آ رزوی دیدار تواست

ددی بزرگوار وفات په ٦٤٣ هجری کال کښی واقع شویدی دالاندی رباعی هم دده له طبعی څخه ده :

عشق ازچه بسی خون جگرها دهدت
میخور چوصدف که هم گهرها دهدت
هرچند که بار عشق باریست عظیم
چون شاخ بکش بار که برها دهدت

ابن الرشید غزنوی : دملك الوزرا علاء الملك د دربار له تربیت شوی اشخاصو څخه دی ؛ دپېړه موده ئی دهرات په اسفزار کښی تېره کړیده لدی کبله ځینو دی اصلا د اسفزار گڼلی دی، دخراسان له خوڅو ژبو شاعرانو څخه ؤ. دځینو تذکره لیکو نکو په قول ده لومړی (عزیز) تخلص خانته ټاکلی ؤ، دالاندی بیتونه ددی :

زبان من زشکر تو، دهان پر شکر دارد
دوچشم من برویتو جهانی پر قمر دارد
توخورشیدی بدان نسبت قبای نیلگون پوشی
توجوزائی بدان نسبت که جوزاهم کمردارد
شوم برغاتفر عاشق، اگر معلوم میگردد
که زیبا همچو بالائی توسرو غاتفر دارد
منم مولای آنساعت که اندر جلوه با یاران
برانگیزی کمینت راچنان مرغی که پردارد

☆ ☆ ☆

صاین هروی : ددولتشاه په قول دسمنان له قاضی زاد گانو څخه ؤ، مگر په هرات کښی پې نشو نامیندلی اولوړو مدارجوته رسېدلی دی اودطغا تیمور په دربار کښی پې خاص تقرب درلود. تردې چه طغا تیمور له خواجه څخه لوست کاوه خواجه عمیدالملك رکن‌الدین صاین هراتی دیوان هم لری چه درې زره بیتونه پکښی دی . اوس دده دیوان نشته، دی څومودې دحاسدانو دشماتت په واسطه بندی شوی هم دی، لدې کبله خواجه دالاندی رباعی له محبس څخه طغاتیمور ته ورواستوله :

در حضرت شاه چون قوی شد رایم
گفتم که رکاب را ز زر فرمایم
آهن چو شنید این حکایت ازتن
در تاب شد وحلقه بزد بر پایم

☆ ☆ ☆

دځینو تذکره لیکونکو په قول دصاین وفات په ٧٦٥ هجری کال واقع شوی دی :

امیرخسرودهلوی : نومئی امیرخسرو، اودامیر سیف‌الدین محمود زوی دی خسرو په اصل کښی ترك نژاد، اود کش دښار دتورکانو له جملې څخه ؤ، چه نوموړی ښار په قبة‌الخضرا سره هم موسوم ؤ. ځینی له تذکره لیکو نکو څخه امیر دلاچین له هزارگانو څخه بولی دامیر خسرو پلار ، امیر سیف‌الدین چه دبلخ له محلی امیرانو څخه وو، دمغلو د حملو په مقابل کښی دمقاومت توان نه درلود ، نو دهندلورته روان شو، اوپه پټیاله کښی چه ددهلی له مربوطاتو څخه دی ، متمکن شو . عمادالملك چه ددهلی دسلطنت له امیرانو څخه ؤ، خپله لور امیرسیف‌الدین ته ورکړه، نوامیر خسرو له همغی نسخی څخه د ٦٥١ هجری قمری کال په شپږ ورځو کښی په نړۍ ستر گی رونبی کړی اوپه پټیاله کښی وزېږ ېدی دامیرخسرو پلار د ۸٥ کلو په عمر په یوه غزا کی شهید شو، اوخسرو سره له دی چه صغیر ؤ، دخیل پلار په ځای کښېناست .

امیرخسرو، داوۅمی هجری پهرۍ دپار سی ژ بـی دسترو شاعرانو په ډله کښی ګڼل کېږی. ددهاثار او مو لفات لخینی ۹۹ کتابونه رسوی خسرو دخپلو اشعارو دیـوان په پنځه برخی وپښلی، تحفةالصفر، وسطالحیات، غرةالـکمال ، ر بضیة نقیه اونهایةالکمال ده دنظامی دخمسه پهمقابل کښی خمسه په دغو نومو سره وپلی دی :

مطلعالانوار، شرینواوخسرو، لیلیمجنون، آئینه سکندری اوهشت بهشت، دامیر خسرو دخمسه دبیتونو شمیر و اتو زروته رسېږی،سربیره پهذکرشویوآثارو، نور منظوم مولفات هم لری لکهقرانالسعدینه سپهر، مفتاحالفتوح خسروی. خزاین الفتوح او اعجاز خسروی دده له منشورو اومشهورو آثارو څخه دی . دموسیقی پهعلم کښیپې هم بشپړمهارت درلوډ . ده دپنج ګنج ، پهنامه دموسیقی په موضوع با نـدی یوه رساله لیکلی ده او دموسیقی لخینیالاتهم دده لهاختراعاتو څخهدی دپې ستر شخص (۷٤) کاله عمر کړی اوپه ۷۲۵ هجری کال پهدهلی کښی و فات شویدی . دامیرخسرو قبر په دهلی کښی دده د پیر نظامالدین اولیا دقبر نزدی لخای کښی واقع دپې . دامیر دکلام نمونه یوه غلوریځه، له دریو بیتو سره، چه دده له هغی قصیدی څخه چه دعبدالواسع جبلی په خواب کښی یې ویلیده، اقتباس شوه :

رباعی

از شعلهٔ عشق هرکه افروخته نیست
بـا او سر سوزنی دلـم دوخته نیست
گر سوخته دل نه ای زمـا دور کهما
آتش بدلی زنـم کـان سوخته نیست

دجبلی دقصیدې مطلع :

که دارد چونتو معشوقی نگار چابك و دلبر
بنفشهمویو، لالهروی، نرگس چشمونسرین بر

☆ ☆ ☆

دامیر خسرو بیتونه :

کجا خیزد چو تو سروی‌جوان نازك و دلبر
شکر گفتارو، شیرین کارو گلرخسارو،ماه پیکر
ببرد اندیشه وهجرو فـراق و آر زوی تـو
زچشمخواب جسمم تابورویم آبوجانم خور
زشوق وعشق وسوزوداغ توباشد بدینگونه
دمدودو ، غمسودو، دلم عودو ، تنم مجمر

☆ ☆ ☆ الخ

(امیر خسروته دی رجوع و شی .)

ملوك کرت : دچنګیزیانوداقتدار اوسلطی په زمانه کښی، دافغانستان په خاوره کښی لخینی محلیحکمرانان پهوجوداغلل، چه داجتماعی تحول له نقطه نظر څخه پخپل وار سره داهمیت خاوندان دی . ترټولو خورا با نفو ذه محلی امیـران دکرت دکورنیۍ حکمرانان دی، چه دادبی اوعلمیتطور په لحاظ ډېر ارزښت لری لخکه دې فضل دوستی اوعلم روزونکی کورنیۍ بری نښودل چه دمغلو دیرغلو؛ اولوټ اوغارتګریۍ له کبله ددې هیوادداوسېدونکو، ادبی ذوق او فطری قریحه بشپړ له منځه ورکه شی، ددغو امیرانو توجه اوپام لرنه چه علم اوادب تهئی درلودله یوه ښه وسیله وه چه هغه نیم مړ شوی د فضیلت اوعلم څراغ پدی هیواد کښی بهکلی ډول‌مضمحل نشو . شاعرانو اوفاضلانو، ددغو امیرا نو لهخوا تربیت اوحمایهومیندنه دعلم اوادب بازار چه دمغلو داستیلا لـه کـبله ورشکست شوی ۇ ، بېرته تودشو، اورونق ئی پیدا کړ عالیقدرو ادیبا نـو ظهور وکړ، اوستر مورخین منځ ته راغلل هغوی دادب اوعرفان ډیوه پهلاس کښی واخیسته اوهغهلرعونیۍ دبدبه ، اوپخوانیې افتخار ئی بله پلا ژوندی کړ . دې کورنیۍ نهیوالحی دعلم او عرفان په ترویج کښی سعی اوکوشش و کـی، بلکه ددې خـاندان پاچاهان ټول، اهل دعلم اودادب او ذوق خـاوندان وو . هغه آثار، اومخلد اشعار چه ددې دورې یادګـاردی کېدایشی چه دهغوی دادبی ذوق نماینده اومعرف وګڼل شی .

دکرت کورنیۍ په اصل کښې د پښتنو غو ریانو سلسلی ته منسوبه ده اومورخین داخبره پـه صراحت سره لیـکی پښتنو امیرانو، دهغهعصر دتاجکانو ډلیته، چه د سربدارانوپهنامهئی شهرت درلود ، سقوط ورکـړ . داد سربدارانـو تاجـکه ډله هغه څوك ۇ، چه دمغلو قواوې ددوی په مقابل کښی ناکامې شوې . دپښتنو دکرت دکورنیۍ یوپاچا حسین غـوری ۇ ، چه سربداران یېپوهپنا کړل اوابن بطوط عرب سیاح هغه واقعات پخپله سفرنامه کښی لیکلی او سلطان حسین دغوری په نـامه ستائی ددې کورنیۍ غورنیکه تاجالدین عثمان دی چه دخیسار دکلاکو ټول ۇ دهغه ترمرګ ورو سته دده زوی رکنالدین دسلطان غیاثالدین محمد غوری لور په نکاح کړه داوخت ۇ، چه مغلو پرخراسان باندې حمله وکړهنو ، رکنالدین ابوبکر چنګیز خان ته اطاعت اظهارو کړ، اودایل خان لهخوا دهرات حکومتهمدهته وسیارلشو رکنالدین په٦٤٣ هجری کال وفات شو دهغه زوی چه شمسالدین محمد نو مبده دخپل پلار په لخای کښیناست . داشخص دکرتوکورنیۍ موسس دی،اوخورامقتدر اوشجاع واکمنۇ،منګوخان دمغلوخان دده لهقدرت اوتورپالی توب څخه وپرېدی،نوددې‌لپاره چهداپښتون واکمن لهځانه راضی کړی ، نودهرات ، غور . فیروز کوه ، غرجستان . مرغاب ، مروی اوفاریاب حکومت ئی دجیحون ترځنډپوری لهپوې‌خوا اوفراه ، کابل، سیستان،اسفزار اوتبرایی‌داپاسیند ترځنډ وپوری

له بلې خواوشمش الدین ته ورو بانیه ، شمس الدین هم پدې مهال کښې یومقتدر اوملی مستقل حکومت قائم کړ،دی په ٦٦٢ هجری کال هلاکو ته ورغی اودری کاله لههغه سره پاته شو ، پس له دې بیا اباقاخان ته ورغی اودباکو اودربند په جګړو کښې یی لههغه سره شرکت وکړ.همداډول په ٦٧٥ هجری کال بله پلا اباقاخان دربار ته ورغی . مګردالحال دمغولی سلطان دسو.ظن مورد واقع شو ، ترخوچه په ٦٧٦ کال هغه مهال چه په تبریز کښې په حمام کولو لګیاوو ،یوه مسمومه هندوانه ئې پرې وخوړله ، اوشهید ئی کړ ، مړی ئی دآباقاخان په امر دخراسان دجام په قصبه کښې له لخټیر سره خاوروته وسپارل شو ، ترهغه وروسته دده زوی رکن الدین محمد چه په شمس الدین کهین سره معروف دی، دآباقاخان په امر د ٦٧٧ هجری کال په حدودو کښې دهرات په ولایت باندې والی مقررشو . ده په لږه زمانه کښې هرات معمور اوودان کړ خو هغه مهال چه په ٦٨٠ هجری کال آباقاخان مړشو، نوشمس الدین کهین خپل زوی علاءالدین په هرات باندې مقرر کړ ؛ او بل زوی ئی چه فخرالدین نومیده دبلاز په حکم اوه کاله په بند کښې پاته شو. ترخو چه دمغولی سردار (نوروز) په مرسته له بنده خخه خلاص شو خپل پلار ئی له حکومت خخه خلع او په لخای ئی کښېناست. نو پلار ئی دخپسار کلانه پناه وروړه ، هوری په ٧٠٥ هجری قمری کال رفات شو . په ٧٠٦ هجری کال دده زوی فخرالدین له سلطان محمد خدابنده سره جګړه وکړه اوماتی ته اړشو .خدابنده هم دبهادرخان په قیادت لس زره عسکر دهرات دنیولو لپاره راواستول فخرالدین چه دډې فوج په مقابل کښې لخان کمزوری وګانه نو (امان کوه) ته وتښتید. دانشمند بهادر هرات ونیو ، مګرپس له کمی مودې دخیانت په وجه مقتول اوفخرالدین بېرته راغی ؛ هرات ئی ونیو؛ خو دېره موده تېره نه شوه چه فخرالدین هم د ٧٠٦ هجری قمری کال په آخر کښې وفات شو.

ملك فخرالدین یوفاضل ، عالم اوشاعر روزونکی سړی وؤ، ده به علما اوفضلا ساتل اوحمایه به ئی کوله ، لکه چه سیفی هروی د( تاریخ نامۀ هرات) مولف دملك فخرالدین مداح دده په باره کښې وائی چه خلویشت سترو او مشهو رو شاعرانو به دده مدح کوله ، پس له دې خخه د نوموړی زوی غیاث الدین سلطنت ته ورسیده . دلمهال دهغه ورور ،علاؤالدین له ده سره مخالف شو نو غیاث الدین دی ته اړشو چه سلطان محمد خدا بنده ته ورشی نوموړی سلطان دغیاث الدین دپاره احترام وکړی په ٧٠٨ هجری کال کښې ببرته هرات ته راغی ؛ اوغور خیسار اواسفزار ئی هم ترخپل تصرف لاندی راوستل . ملك غیاث الدین هر کله چه یو متدین سړی و ، په ٧٢٠ هجری کال حج ته ولاړ،اوخپل زوی ملك شمس الدین محمد ئی دهرات نایب السلطنه وټاکه . نو موړی سلطان دهرات جامع مسجد چه وران شوی وؤ دوه خلې ودان کړ. او په ٧٢٩ هجری کال وفات شو ، دې سلطان خلورزامن درلودل: شمس الدین ،حافظ، معزالدین حسین او باقر دغیاث الدین ترمرګ وروسته دهغه مشرزوی شمس الدین سلطنت ته ورسیده ، خودی بس له دوو میاشتو حکومت خخه وفات شو ؛ حافظ ئی په لخای کښېناست ، حافظ هم پس له دوو کلو حکمرانی خخه مړ شو، بیائی بل ورور ملك معزالدین حسین په ٨٣٢ هجری کال په تخت کښېناست، ددې سلطان جلوس له دربو تاریخی پېنو سره مصادف دی : لومړی دابوسعید مغولی پاچامرګ چه دمغلو دسلطنت خاتم دی، دوهم دامیرتیمور تولد.دریم دسربدارانو قیام. ملك معزالدین حسین ٣٩ کاله سلطنت وکړ ، ترخو چه په ٧٧١ هجری کال وفات شو ، داسلطان دکرت دسلسلی سترتوالك دی . معزالدین حسین دافغانستان دهغه عصر دادبیاتو سترحامی او مربی ګڼل کېږی . دده قبر دسلطان غیاث الدین محمد سام دغوری باچا سره نژدې ، اوخپل پلار سلطان غیاث الدین محمد کرت په خنګ کښې په هرات کښې دی پس له ده خخه دده زوی غیاث الدین پیرعلی سلطنت ته ورسیده . ددې پاچا جلوس دامیر تیمور له خروج سره مصادف دی . هغه وخت چه پیر علی په هرات کښې حکومت کاوؤ ، او کوشش ئی درلود چه نیشاپور هم ترخپل تصرف لاندی کړی ، امیرتیمور په ماوراءالنهر کښې په فتوحاتو لګیاؤ په ٧٨٢ هجری کال امیرتیموردخراسان په عزم راروان شو.نوغیاث الدین وروسته تردری، علورورخی مقاومت تیمورته تسلیم شو ؛اوفاتح دی له خپلی کورنۍ سره ئی سمرقند ته واستاو اوبندی یی کړ بیاپې په ٧٩١ هجری کال کښې پیرعلی دخپلې کورنۍ له غړیو سره یوخای اعدام کړ ، دپیرعلی په وژلو سره دکرت دملوکو سلسله پاته ورسیده ؛ اودافغانستان دمحلی امیرانو حکومت منقرض شو . ددی سلسلی امیرانو لکه چه وموویل ، دعلم اوادب دخپرونی په باره کښې ډېر خدمتونه کړیدی،لدی کبله دوی دافغانستان دادب په تاریخ کښې لوی نوم لری .

هغه څه چه ددغی دورې په پارسی ادب کښې ډېر پر اخوالی راولی دنصیحت اوپند اشعار اوادبی ټوټی اوپاڼې کېږ دی، چه تر پخوا زیات دشاعرانو دتوجه وړ ګرزېدلی دی ، مخصوصا په دې مورد کښې ابن یمین فریومدی لوی مهارت لری.اودقصه کوونکو بازار ئی ښه تود کړی دی ابن یمین پارسی ادب ته بل ډول آب او تاب ورکړ دادی ددې دورې دادباؤ اوشاعرانو په شرح حال باندې پیل کوو :

ربیعی پوشنګی : نوم ئی صدرالدین ، لقب ئی خطیب او تخلص ئی ربیعی دی ، دی اصلا دپوشنج (دهرات له توابعو خخه ) اود کرت دامیرانو ددربار وله نو میالو ، اوعالی رتبه شاعرانو خخه وؤ ، پلار ئی دپوشنج په ښار کښې خطیب وؤ، ربیعی هم په لومړی مرحله کښې په خطابت باندې بوخت وؤ.مګرهر کله چه ده یوه سرشاره

اوخورا مطبوع اوحسا سه قریحه در لوده ، دملك فخر الدین بن ملك شمس الدین کهین د دربار په ندیمانو اوخواصو کښی داخل شو . ربیعی دکرت نامی په اسم یو کتاب منظوم کړیدی چه ددغه کورنۍ له ابتداهغه یې تر ۷۰۲ هجری کال پوری ټول حوادث یکښی راوړی دی . اوس له دی کتاب څخه بی له یوې محدودی برخی اشعارو څخه چه دمولانا سیفی په (تاریخ نامه) کښی درج شوی دی نورڅه په لاس کښی نشته دی . د ربیعی وفات پس له ۷۰۲ هجری کال څخه واقع شویدی ، ربیعی یو بل کتاب د (کارنامی) په اسم په بڈیخانه کښی نظم کړی دی چه عمو بیتونه ئی دنمونی په په ډول لاندې لیکل کیږی :

شاه جهان خسرو روی زمین
وارث جمشید ملك فخر الدین
داشت یکی بند گران ساخته
ز آهن و فولاد بسر داخته
من شده ام بستهٔ بند گران
راست چو کاووس بما زندران
کرد مرا بسته بدان بند پای
سرمکش ازخواهش کیهان خدای
آن دگران را همه آزاد کرد
چرخ فلك بین که چه بیداد کرد

✲ ✲ ✲

امیر حسینی هروی : حسینی له ملك غیاث الدین کرت سره معاصر دی نوم ئی حنین و ، چه دعالم بن ابی الحسین هروی زوی اولقب ئی حسینی اصلا دغور د (گزیو) دناحیی دی . ده په هرات کښی نشوونما میندلی اوهم هوری وسترو درجوته رسیدلی دی. دده تالیفات په فلسفه اوتصوف کښی ډیردی . په شعر کښی یې هم اوږدلاس درلوده له دهغه منظوم اومنثور اثار څخه یادگار پاته شوی دی ،چه مشهور کتابونه ئی کنزالرموز، نزهة الارواح، زادالمسافرین، مطرب المجالس، صراط المستقیم اوروح الارواح دی. ده وفات ته راجع اختلاف موجوددی. حسینی دنوموړی دوفات کال ۷۲۸ ،اوحسینی نور ئی ۷۱۹ هجری کال،اوبله ډله ئې ۷۲۳ هجری قمری هم بولی . ددی ستراديب مدفن په هرات کښی دعبدالله بن معاویه بن عبدالله جعفر طیار ، دگنبدې په هنگ کښی دی، دغه لاندی رباعی دده ده :

ای ساوه تومرد صحبت نورنه ئی روماتم خودگیر گزین سورنه ئی
اند یشهٔ وصل آفتابت نر سد میساز بدین قدر گزو دورنه ئی

امیر یمین الدین طغرائی : اصلا تورك ؤ ، خو دمحمد خدابنده دحکومت په زمانه کښی یې په فریومد کښی استوگنه غوره کړی وه. ده له خواجه علاؤالدین محمد فریومدی څخه، چه دسلطان ابوسعید په زمانه کښی دخراسان ددیوان خاوند ؤ، ډیر احترام ئی لیدلی دی ، ددولت شاه په قول دامیر یمینی اوده دزوی ابن یمین په مدیح کښی مشاعره وشوه، وائی چه دواړه شاعران اهل دفضل او دښی طبعی خاوندان وو . دالاندی غلو ریخه د امیر یمین الدین طغرائی ده چه خیل زوی امیرمحمود په ابن یمین سره مشهورته ئی لیکلی ده :

دارم ز عتاب فلك بو قلمون
وز گردش روزگار خس پروردون
چشمی چو کنارهٔ صراحی همه اشك
حانی چو میانهٔ پیاله همه خون

ابن یمین دخیل پلار په خواب کښی دغه غلو ریخه وویله :

دارم ز جفای فلك آئینه گون
پرآه دلی که سنگ ازو گردد خون
روزی بهزار غم بشب می آرم
تاخود فلك از پرده چه آرد بیرون

✲ ✲ ✲

دامیر یمین الدین وفات ددولتشاه په قول په ۷۲٤ هجری قمری کښی پیښ شوی او په فریومد کښی ښخ شویدی . دالاندی عمو بیته د نوموړی دکلام نمونه دلته ولیکل شوه :

بزرگوار خدایا بسوز سینهٔ آنان
که علم و حکمت توراه کرد، دردل ایشان
بزادو راحلهٔ رهروان عالم قربت
که مرغ وهم نزدبال در مراحل ایشان
بعار فان سرا پردهٔ سر اچهٔ قدرت
که هیچ نفس مقدس نشد مقابل ایشان
به بینیازی دیوانگان سلسله دارت
که رمز عشق بود نالهٔ سلاسل ایشان
به آب روی جوانان نارسیده بوصلت
که نفس ناطقه لال است درفضائل ایشان

✲ ✲ ✲

ابن یمین فریومدی : نوم ئی فخر الدین محمود د امیر یمین الدین طغرائی زوی دی . نوموړی داوومی پیړۍ له سترو شاعرانو څخه ؤ ده ډیری قصیدې اوقطعی دوزیرانو ، اوحاکمانو لکه طغاتیمور، و جیه الدین سرپداری، ملك حسین کرت ،په مدحو کښی ویلیدی . غزل لږلری، اوقطعی ئی نسبت غزلیاتو ته ډیری خوږی دی. داشعارو دیوان ئی په یوه مجگړه کښی تالاشو . لدی کبله ابن یمین دوه ځله دخیل دیوان داشعارو په ټولولو باندی بوخت شویدی . دا او سنی دیوان ئی ، چه د ۷۵۲ هجری په حدودو کښی تدوین شویدی ، لس زره بیته لری . قصیدی ، قطعی او غلو ریځی (رباعیات) پکښی دی. غزلی دده په دیوان کښی کمی لیدلی

ACKU

کېږی ، دغه لاندی غزل دده دکلام د نمونی په‌حیث د ادبیاتو دفاکولتی له‌یوه قلمی جنګ څخه راواخستل شو :

ای‌دل‌منه به‌بند سرزلف یار دست
مارست ز لف یارمبر سوی‌ماردست
در عهد دلبران نتوان استوار بود
ای‌دل به‌دلبران ندهی زینهار دست
دارم بدست داد تو امید ها ولیك
بی‌زر نمیدهد بت‌سیمین عذار دست
درآرزوی آنکه زگلزار عارضش
چینم گلی‌و گرفت مرا خار در دست
ما ئیم در هوای سهی سرو قامتش
بر سرزنان زغصه بسان چنار دست

☆ ☆ ☆

ابن یمین په۶۸۵ هجری قمری کال کښی په فریومد کښی زیږیدلی او په۷۶۹هجری‌قمری د۸۴کلو په‌عمر پخیل مولد کښی وفات شویدی .

امامی هروی : دهرات داوومی‌پیړۍ له پوهانو ،اودکرت دپاد شاهانو مداح وۀ . نوم ئی رضی‌الدین ابو عبدالله محمدبن عثمان هروی دی،، امامی به‌ئی تخلص کاوۀ . امامی نه یوالحی په شعر او د پارسی په ادب کښی مهارت درلود ، بلکه دعربو په ادبیاتو کښی هم مقتدر و . ده‌یوه موده دخراسانی فخر الملك ترحمایی لاندی ژوندکاوۀ ، دا لاندی قطعه دده ده چه د دوسوال په‌لحواب کښی ،چه‌نوموړی ملك له‌ده‌څخه کړی وۀ، ده‌ویلیده:

لطیف سو الی که در مشام خرد
زبوی نکهت خلقت نسیم جان آید
بگریه چست قصاصی که‌صاحب ملت
چنین قصاص به‌شرع گرین نفرماید
نه‌کم زگربهٔ بیداست گر بهٔ صیاد
که‌مرغ‌بیندو برشاخ پنجه بکشاید
اگر بساعد سیمین خود سری دارد
بخون گریه همان‌به که دست‌نالاید
بقای قمری وعمر کبوتر ارخواهد
فرار گاه قفس را بلند فرماید

مولانا حسن متکلم : دغه بیاوړی او غښتلی شاعر د کرت دباچاهانو له‌مداحینوڅخه‌وۀ ؛ اومخصوصا دملك معزالدین حسین او دملك غیاث الدین پیرعلی دباز ماندګانو مدح ئی ویلی‌ده دعربی او پارسی په ادبیاتو کښې یې زور ور لاس در لود . ده دملك غیاث‌الدین په نامه یو کتاب د شعر به‌صنائعو کښی تالیف کړیدی .

دنوموړی وفات په ۷۷۱ هجری قمری کال واقع شو. دغه لاندې دوه ځلویزې دهغه د کلام دنمونې په‌ډول ولیکلې شوی:

آمد برمن سحر گه آن مایهٔ روح
ز آمد شدن نفس لباس مجروح
خون کرده عذار نازکش ازآتش می
چون ژاله که بر لاله نشیند بصبوح

☆ ☆ ☆

ای روی‌تو نوبهار دلها خط تو بنفشه زار دلها
جزدرسر زلف بیقرارت ممکن نشود قرار دلها

مولانا محمد بن حشام : دافغانستان‌له‌سترو اولوړ مرتبه وۀ شاعرانوڅخه‌وو دی دجمال‌الدین بن‌حسام زوی‌دی. ده د-ضرت رسول کریم (صلعم) او آل اطهار به نعت کښی غرا قصیدې ویلیدی . دزیږیدو تاریخ‌ئی معلوم‌نشو، وفات‌ئی د ریاض‌الشعرا دتذکری په قرار په ۷۷۵ هجری‌کال واقع شو یدی . دالاندې څو بیتونه‌دده‌د کلام‌دنمونې‌به‌ډول،له ریاض‌الشعرا څخه اقتباس‌شول:

ای رفته آسمان‌تو رضوان به آستین
هاروب فرش مسند تو زلف حورعین
باد صبا زنـگهت خاك تو مشکبوی
خاك عرب زنـز هت قبر تو عنبرین
از لعـل آبدار تـو ، ارواح را شفـا
وز زلف تابدار تو حبل‌المتین متـین

زین‌الدین تایباوی : دکرت دباچاهانو دزمانی لـه سترو پوهانو څخه‌وۀ، دریاض‌الشعرا دایکوال په گفته ملك‌غیاث‌الدین به‌ئی له‌ظلم اوتعدی‌څخه‌منع کاوۀ، اوملك‌غیاث‌الدین پیر علی‌هم دده له مریدانو څخه وو. وائی چه یوه ورځ وګړی دسلطان غیاث‌الدین له‌ظلم اوتعدی‌څخه به نفس رسیدلی اوشیخ زین‌الدین ته‌ئی شکایت راوړ نوموړی شیخ دا لاندی رباعی ولیکله او ملك ته‌ئی ورواستوله :

افراز ملـوك را نشیب است بتـرس
درهر دانگی ازتو نهیب است بترس
با خلق ستمگری کنی نند یشی تـو
درهرسخنی بـاتو حسیب است بتـرس

ملك دشیخ رباعی ته التفات و نه کړ بلکه هغه‌ئی دنفرین مورد وګرزوله، ترهغو چه دده‌ملك امیر تیمورونیوه دشیخ‌وفات د۷۹۱ هجری قمری کال دمحرم دمیاشتی د پنجشنبې په ورځ واقع شو . زوزنی عمادالـدین دده د وفات نېټه دا ډول نظـم کړیده :

سنه احدی وتسعین‌بود تاریخ گذشته هفتصد ازسلخ محرم
شده نصف النهار از پنج شنبه که‌روح‌پاك مولانای اعظم
سوی خلد برین رفت وملائك همه گفتند از جان خیر مقدم

**د تیمور یا نو عصر:** هروخت چه ابوسعید دمغولانو دسلسلې اخرنی باچا به ۷۳۶ هجری قمری کال کښی د دوهمی خور به ۱۳ نېټه مړ شو، اته میاشتی وروسته دهغه کال د شعبان به میاشت کښی امیر تیمور، د کش په ښار کښی ( اوسنی شهرسبز ) نړۍ ته راغی امیر تیمور دامیر تورغای د کس والی زوی دی نوموړی په اصل کښی د (برلاسو) دطائفې له مشرانو څخه او نژاداً تورك و . د تیمور دژوند دلومړیو دورې احوال دونه، نه دی معلوم چه کافی وګڼل شی . دده شهرت مخصوصاً پس له ۷۶۱ هجری قمری څخه، چه دامهال د طغا تیمور له خوا دماوراءالنهر د «کاشان» والی وتاکل شو، ډېرشوی دی تیمور په سنه ۷۶۲ هجری کښی چه تغلق تیمور دسمرقندښار ونیو، د(الیاس خواجه اوغلان) دنوموړی دزوی،مشاور مقررشو. خودسمرقند د امیرانو رویه دتیمور خوښه نشوه نوله هغه ځایه وتښتیده او دلښکر ځواولو په فکر کښی شو، ترهغوچه پس له هغومودې موفق شو چه تغلق تیمور اودهغه زوی الیاس ته ماتی ورکړی او په قتل ئی ورسوی . تیمور دامیرحسین دبلخ دوالی زوم ؤ له دی کبله دی په کورګان ( دخان زوم) ملقب شو . دې ته د هغه زخم لامله چه په یوه جنګ کښی دده پښې ته رسید لی وو د عمر تر آخره پوری کوډو، (تیمورلنګ) وائی. تیمور په ۷۷۱ هجری قمری کښی امیرحسین مغلوب کړ او بلخ ئی ترې ونیو، خومودې ئی په لومړنیو مرحله کښی بلخ د خیل حکومت مرکزو ګرزاوو. له دې وروسته تیمور په یوه سلسله لښکر کشیو او ډېروفتوحاتو موفق شوی، اودچنګیز دزمانې سفاکیو ئی وروسته تر ۱۵۰ کالو بېرته نوی کړی ده ده دسیلاب غوندې لښکری سوقیانو په ذریعه اوتوری په زور خیل کار په مخ بیولی اوله هیڅ ډول ورانی اووینې تویولوڅخه ئی باك نه دی کړی ، لکه چه دسیستان دوګړو قتل عام اوداصفهان د ۷۰ زرو اوسېدو نکو وژل په ۷۸۵ - ۷۸۶ هجری قمری کښې او دسلاؤ زرو هندی بندیانو سر پرېکول ډیلی ته نژدی په سنه ۸۰۱ هجری قمری کال کښی اود ۴ زروار منیانو ژوندی ښخول په ۸۰۳ هجری کښی او دحلب اودمشق به سیمو کښی شل کله مناره جوړ ول په ۸۰۳ هجری کال کښی، دده له وحشیانه کارو څخه ګڼل کیږی تیمور دخیل حکومت په شپیږ دیرش کاله موده کښی ډېر هیوا دونه او ښارونه ورانول کړی او په ملیونو انسانانو ئی له تیغه تیر کړیدی که څه هم دده دمتعددو فتوحاتو په ذریعه چه ذکر به شی ، دده دحکومت دستګاه خورا پراخوالی پیدا کړ، اما دسرجان ملکم انګریز په قول «ترهغه پوری چه ده حیات او ژوندون درلود مملکت یې قوت اوسمون درلود اود کوم وخت چه دده د ژوندانه مزی وشلیدنو دمملکت بنسټ یې هم سمدستی ولوید» هغه جګړی اوفتوحات چه تیمور وکړل دادی : دخوارزم اوجته فتح - دکریمیا له خان تو ختمیش سره جګړه په سنه ۷۸۲ هجری کښی دایران او خراسان فتح پر مغولی اقوامو باندی حمله اوهغوی ته ماتی ورکول ، دګرګان مازندران اوسیستان تسخیر اونیول په سنه ۷۸۴ کښی، دکرت د خاندان بغاوت اود هغو له منځه ویل دتیمور په ذریعه - دسلطان احمد جلایر ماتی، دبارس ، عراق، ارمستان اوآذربایجان فتح په سنه ۷۸۴ او ۷۸۶ کښی ، دخزر دبحیرې دوګړو قتل عام اودآل مظفر دکورنۍ خاتمه دشام فتح اوعمر شیخ دتیمور دزوی وژل کېدل د قبچاق پردشت حمله کول دتوختمیش په ضد دماسکونیول او په جارجیا باندی هجوم ، په سنه ۸۰۰ هجری کښی مارش پرهندوستان او په ۸۰۱ هجری کال کښې دډیلی نیول ، په شام باندې حمله اود حلب ، حما ، حمص او بعلبك نیول دمشق نیول اواو تول په ۸۰۳ هجری پر بغداد باندې حمله اود ۴۰ زروتنو اوسېدونکو وژل ئی له بایزید یلدرم عثمانی سلطان سره جګړه اودهغه اسیر نیول او په اخر کښی دچین دنیولو دپاره تهیه نیول داټول دهغو فتوحاتو اوجګړو له جملی څخه دی ، چه تیمور دخپل حکومت په زمانه کښی په هغو بریالی شوی اویو پراخ مملکت ئی تشکیل کړی دی دده مملکت داورال له بحیرې څخه د عمان تر بحیرې پورې ، اوله دمشق نه تر ډیلی پورې و سعت در لود تیمور د (۱) کالو په عمر هغه وخت چه دچین د نیولو په نیت راو تلی ؛ اود (اوتراز) ښارته ورغلی ؤ ، مریض شو ، اوهوری په ۸۰۷ هجری قمری کال وفات شو . مړی ئی په ډېر عزت او احترام سره له هغه ښار څخه سمرقند ته (چه دده د سلطنت مرکزو ) راووړ اوهلته خښ شو . تیمور خیل پراخ سلطنت دخپل اولاد په منځ کښی تقسیم کړی ؤ . او تیمور سره له هغو لو درند ګیو ادسفاکیو دداسی شخصیت خاوند ؤ ، چه صداقت ئی خپل کر کتر ګرزولی و اودغه سجیه ئی خورا خوښه وه . له امیرانو ، دولتی مامورینو او ګړو څخه ئی هم دغسی هیله درلوده ، خلقو ته به ئی دصداقت لرلو اودینی مبادیو په عمل او اعتقاد لرلو سره توصیه کوله . د(راستی رستی) جمله ئی بنا په تاریخی شواهدو باندې دخپل مهر دغمې نقش جوړ کړی و . بناغلی شفق دغه عبارت په هغه قطعه کښی چه دتیمور دمهر نقش ئی نظم کړی و . بولی :

شده راستکاران ازان کامیاب — که اوراستی رابعادت گرفت
همی گفت اگرراستی رسته‌ای — ازین گفته فر سعادت گرفت
همو کرد آن گفته نقش نگین — ازان نقش خط سعادت گرفت

☆ ☆ ☆

سربېره پردې تیمور دلحینو ښارونو په ودانولوهم موفق شو له هغی جملې څخه ئی دسمرقندښار دشرق پوله بهترینو ښارونو ، اودصنعت اوتجارت مرکز وګرزاو دپوهانو ، اوشاعرانو قدر به ئی هم کاوه ؛ دروحانیونو احترام به ئی ساتو که څه هم تیمور

دخراسان مدنیت اوادب ، فرهنګ ته تاوان او تلفات ورسول اووئی نشوای کولای‌چه‌هغه‌ورانیږ بهرته تلافی کړی ، اماده اولاده چه‌تر ډیری مودې پورې‌پې دهرات اوبلخ اوداسی‌نورو ځایو په‌ادب لرونکو اوشاعر روزونکو ښارو باندې حکومت کاوه ، دهغو ښارونو دمدنیت اوادب‌لرلو تراغېزو لاندې راغله اوادبی ذوق پې تحریك‌شو. نودتیمور تروفات وروسته،دتیمور ځوځاد دخیل پلار دخرابیو، داصلاح اوترمیم په‌چارو بوخت‌شو اوددې هیواد دمدنیت ، ادب‌اوفرهنګ ژوندی کولو مرام ئی غوره کړ اوتر‌وحده‌پې‌وکړای‌شو چه‌په‌خپله آرزو باندی بریالی شی مخصوصا دتیمور داولاد له‌جملی څخه شاهرخ مرزا،بایسنقر الغبیك، ابوسعید ، اوسلطان‌حسین‌بایقرا ، اودهغو په‌شان نورو تیموریانوپه‌خراسان کښې‌اوظهیرالدین بابر،همایون،جلال‌الدین اکبر ، شاه جهان ، اورنګ زیب اودهغوی په‌څېر نورو په‌هند کښې دمستظرفه صنائعو په‌ټیره بیاشعر ، موسیقی ، معماری، نقاشیږ اوخطاطیږ او نورو په ژوندی کولو کښې خورا ډېر کوشش کړیدی ؛ اوحتی کله‌کله‌ئی په‌دې لیارو کښې د مبالغی لاره هم غوره کړیده . دتیمور د ورانیوا بادلوته دشاهرخ او مهدعلیا گوهرشاد دهغه‌دملګی توجه اوهمدا ډول دشاهرخ‌صاحبقران خوښول ، او نیګه رویه اوددری دادب اوفرهنګ بهرته ژوندی کولو لپاره خورا مناسبته لاره پرانستله . بایسنقر دشاهرخ زوی د شاعرانو او خطاطانو او هنر لرو نکو اوطلا کارانو اوفاضلانو او نقاشانو دتشویق او ترغیب لپاره چه دایران اوخراسان او ماوراءالنهر له‌ملکو څخه دده دربار ته راغوندو شوی وو اودپارسی ژبی دعلم اوادب به‌خپرولو کښې پې سعی او کوشش کاوو، ډېره نما نخته کوله . ده نه یوالحی شاعران اوفاضلان تربیه کول بلکه ده پخپله هم د آثارو او اشعارو په راغوندولو کښې برخه، درلوده د شاعرانو اشعار ئی داهمیت په‌سترګه کتل . دهغوی دیوانونه به‌ئی په خورابنه خط لیکل اوتدوین کول به‌ئی . مخصوصا له‌خوش نویسی‌سره ئی خاصه مینه درلوده . هغه مقدمه چه‌اوس د فردوسی په شهنامه کښې موجوده ده، دهمده په زمانه اوبه نامه لیکل شویده او دهمیشه لپاره یی دده نوم ژوندی کړی دی .

امیرشاهی سبزواری، چه د هغی دوری له خورا سترو شاعرانو څخه دی، دهمده له‌تربیت موندونکو څخه ګڼل کېږی بایسنقر دامیر خسرو بلخی دهلوی یولك او شل زره اشعار راغوندو کړل هغه کتابخانه چه بایسنقر میرزا ترتیب کړی‌وه ، نه یوالحی په‌هماغه‌زمانه کښې پې ساری نه‌درلود، بلکه نن‌ئی هم نظیر کم لیدل کېږی . الغبیك دشاهرخ بل‌زوی هم دعلم اوعرفان په‌ساحه کښې ستره بر خه لری . هغه‌مهال چه‌پلار ئی ژوندی وُ اوده په توران کښې حکومت کاوه د ثمرقند په‌ښار کښې‌پې یوه صدخانه جوړه کړه، چه‌ترنن ورځی پوری دالغبیك درصدخانې په‌نامه شهرت لری . ده ددې کاردپاڼه رسولولپاره دهغې زمانې له‌سترو پوهانو څخه څلور تنه (صلاح‌الدین موسی رومی قاضی زاده ، مولانا علاءالدین علی پوشنګی، غیاث‌الدین جمشید کاشانی اومعین‌الدین کاشانی) د خپلې مرستې لپاره را وغوښتل، اودهغوی په کمك سره‌ئی یوز بیج جوړ کړ، چه په الغبیګی یاسلطانی زیج باندی معروف دی .

ابوسعید میرزا دادب، پوهنی اوفن (آرت) لپاره خورا وړاندې خدمت کړیدی جامی هغه ستر اوبزرګوار استاد خپل‌عرفانی دیوان دډغه تیموری شهزاده په نوم باندې تعارف کړیدی . دسلطان حسین په‌زمانه کښې چه‌پخپله هم دپارسی ، عربی، او ترکی ژبو مقتدر شاعر اوادیب وُ . ادب، علم اوعرفان دکمال څوکی ته رسېدلی‌دی . ددغه پاچا په زمانه کښې مدرسی ، خانقاګانی،دارالحفاظونه، جوماتونه،شفاخانی،پندونه، ویالې ، خورا ډېر اوباشکوه پلونه جوړشوی‌وو . ددغه ادب پالونکی پاچا دوزیر په نښه تدبیر سره، چه امیرعلی شیر دی، پوهان ، خطاطان، نقاشان، شاعران، طلاکاران ، صحافان، معماران، اونور هنر لرونکی نوابغ تر یه اوتشویق شول اوله‌ځانو څخه پې مخلد اوبی ساری آثار په‌یادګار پر پښودل . دنو موړی ادب پالونکی پاچا دتشویق په اثر په‌نقاشی کښې بهزاد او شاه مظفر، په‌شاعریږ اولیکوالتوب کښې جامی، هاتفی او کاشفی، په‌خطاطیږ کښې میرعلی او سلطانعلی مشهدی او په تاریخ لیکلو کښې میرخوند، میر، حافظ‌ابرو ، اودهغوی امثالو ظهور وکړ، اوخورا نفیس اوقیمت ګټور آثارئی وجود ته را وویستل . سره له‌دې چه‌په‌دی عصر کښې نقاشی ، خطاطی، طلاکاری، معماری، اونور هنرونه، دلوړوالی څوکی ته رسېدلی وو، اماپه‌شعر کښې ادبی تېټ والی د یخوانیږ زمانې دانحطاط سلسله پرې نشودله اودیخوا په شان‌مخ به‌لوړ (سقوط) ولاړ. ګواکی دپارسی ژبی شعر، دچنګیز ترخروج وروسته هغسې‌چه لازم وو، بله پلارئی بیا آب‌وتاب مینده نه کړ، ورځ په ورځ مخ په‌تېټ توب ولاړ، اووئی نشوای ګولای چه‌له هغه ابتذال اوانحطاط څخه چه وریښې شوی وُ، بله پلا دمتانت، محکمی اوپخوانو سبکونو ، روانیږ ته بهرته راوګرزی. مرحوم بهار دسبك شناسیو ، په‌خپل اثر کښې لیکی : «دپارسی شعر، ته به وائی چه یوځل له‌خواجه حافظ علیه‌الرحمه سره جنت ته ولاړ، اوبهرته راونه ګرزید او په فردوس علی کښې پې ددری ژبی له متکلمینو سره ځای و نیو . هغه پېچلی، متصنع، اوبی روح سبك چه‌له تېټو الفاظو څخه‌ئی، تجاوز نه‌کاوه شعرئی اه‌قصیدې اوغزل څخه دابتذال په حال وغور زاو .

ددې دورې له معروفو ، اوښالی مقاموشاعرانو څخه، چه په

رښتیا سره داشعارو په‌ویلو کښی مخصوص طرز او هم متین او محکم آثار لری، یوازی دجامی نوم ذکر کیدلی شی. دنظم په خلاف په‌دې عصر کښی دتاریخ لیکلو فن بلرونق او ښه بڼه غوره کړه ډېر مورخین پیدا شول اوپه هره ساحه کښی ئی لخانګری مختلف تاریخونه ولیکل همداډول دتیموری کورنۍ دغړیو دتشویق اوترغیب په‌اثر، ډېر کتابونه تالیف شول پدې جمله کښی هغه تاریخونه چه دتیموری کورنۍ د ادب دوستو پاچاهانو په‌تشویق سره ولیکل شوو، دنظام‌الدین شامی ظفر نامه‌چه دتیموریانو دتاریخ‌له‌لرغونو مآخذوڅخه‌دی، د نورالدین لطف‌الله بن‌عبدالله هراتی په‌حافظ ابرومعروف، زبده‌التواریخ اوشرف‌الدین علی یزدی ظفرنامهٔ تیموری، مطلع‌السعدین کمال‌الدین عبدالرزاق بن‌اسحق، دمیرخوند محمد روضة الصفا اودخوند امیر دمیرخوندلور زوی حبیب‌السیر دی چه دغه ټول په‌خپل مورد کښی موثوق اومعتمدتدارك گڼل کېږی، سره بهره پردغو مورخینو، نورلیکوال هم په‌دغه عصر کښی موجود ؤ، چه‌په مختلفو رشتو کښی یې ډېر منثور آثار لیکلیدی، او دراتلو نکو مولفینو لپاره ئی ستره پانګه پرې اېښې ده. مخصوصا دهغوی په‌جمله کښی جامی، کاشفی، امیرعلی‌شیر، دولت شاه، فخری، جلال‌الدین دوانی، فخرالدین صفی او دهغو امثال مشهوردی. جامی متعدد کتابونه «چه ذکربه‌ئی را شی» په مختلفو موضوعګانو کښی لیکلی‌دی ده خپل بهارستان دسعدی دګلستان په‌استقبال‌ولیکه، او نفحات‌الانس‌ئی دصوفیه مشایخو دشرح حال په‌موضوع باندې و لیکه کاشفی د اخلاقو کتاب د «اخلاق محسینی». په‌نامه دابو محسن، دسلطان دزوی به اسم دطوسی ناصرالدین‌داخلاقو، په‌تاسی تالیف کړ، اوهم ئی دانشاء په‌فن، بدیعی صنائعو، علم حساب، نجوم، د قرآن په تفاسیرو او نورو کښی ډېرآثار وجودته‌راوویستل. علی‌شیرنوائی هم ډېرآثار په‌پارسی‌اوترکی‌ولیکل‌مخصوصامجالس‌النفایس، خمسة‌المتحیرین مفردات،معما، میزان الاوزان اودامواد‌نومولفات‌ئی شهرت‌لری، دولت شاه سمرقندی دمختلفو شاعرانو د شرح‌حال‌موادترخپلې زمانې پورې راغونډ کړل اوبوه تذکرهٔ ئی ترپنه جوړه کړه چه‌ترنن ورځی پورې دلیکوالو، او دپارسی ژبی دمتتبعینو، داعتماد وړه ګڼه هم د غه مجموعه په لخپلو کښی له موثوقو تحقیقاتو څخه عادی ده‌خو بیاهم دشاعرانو داحوال په‌مواردو کښی یوه نفیسه مجموعه ګڼله کېږی.

جلال‌الدین دوانی‌داخلاقو په موضوع کښی یو کتاب ولیکله چه‌داخلاق جلالی په‌نامه معروف او موسوم دی، صفی کاشفی درشحات عین‌الحیاة په‌نامه دمتصوفینو په شرح حال باندی یو کتاب ولیکه فخری خپله لطائف نامهٔ ولیکله؛ اوهم ئی‌یوه مجموعه‌دلرغونو اومعاصرو شاعرانوداشعارو په‌موضوع ولیکله پدی‌مجموعه کښی هغه اشعارچه مشترکې قافیې او اوزان لری دتحفة‌الحبیب په‌نامه‌جمع‌شوی همدا ډول نور منشور آثارهم دتصوف اوعرفان په موضوع و لیکل شول چه ترټولو خورا مشهور اومهم‌آثار دصاین‌الدین علی مولفات دی چه په دواړو پارسی اوعربی‌ژبو ډېری رسالی لری.

داټول آثارچه په‌لنډ صورت سره ذکر شول هغه کتابونه دی‌چه‌په‌هرات د(تیموری‌سلاطینومهم‌مرکز) اودهغه په شاوخوا لخابو کښی لیکل شویدی.

اوس‌به وګورو چه‌دغی کورنۍ نورو پاچاهانو په‌پردیو محیطونو کښی‌دپارسی دادب په باره کښی څه ډول فعالیتونه کړی‌دی، او په‌څه توګه‌ئی‌شاعران روزولیدی دتیمورله‌اولادې څخه‌دیوه‌تن چه(بابر) نومېده یوبل‌مرکز داوولسو کلولیاره کابل‌ؤ وروسته‌له‌هغه چه‌ظهیرالدین بابر له کابل څخه دهند لورته لښکر کښی و کړه پنجاب، ډهلی، اګره اونور لخایونه یې به‌هند کښی فتح کړل دی سره له دی چه پخپله ترک نژاد اوپه ترکوژبه پوهوه، دپارسی‌ژبی په خبرولو چه اساس ئی سلطان محمودغزنوی په‌هند کښې اینې ؤ او نورو کورنیو هغه تعقیب کړی وو، بوخت‌شو اوهم ده‌پخپله دبابری تزك په نامه یو کتاب ولیکه. دبابراولاد اوځوځات چه دهند په تاریخ کښې دهندمغولیانو په‌نامه یادیږی په هند کښی دادب اوفارسی ژبی خپرولو لپاره دقدروړ خدمتونه‌وکړل. حتی لخینو له‌دغو پاچاهانوڅخه په سخاو کرم کښې د غزنوی زمانه اودستر سلطان‌محمود عصر بیرته‌ژوندی کړی‌دی شاعرانوته‌ئې ډېرلوی اوی‌سابقه بخښونه ورکول. د دغوپاچاهانو دربار په‌شاعرانو اوفاضلانوښایسته و. اودنړۍ له اطراف او اکناف څخه به‌شاعران دهندمغولی پاچاهانو درسارته ورتلل اوددوی‌د کرم اواحسان له‌دسترخوان څخه ئې برخه اخیستله. په‌تیره بیا دغو بخښونوډایران دشاعرانوتوجه جلب کړه اودهغې سیمې‌اکثره پیاوړی شاعران دصفویانو له دربارڅخه دهندپه لوری‌ولخاستل کهڅه‌هم صفوی پاچاهانوهم وغوښتل چه‌په‌وجود اوسخا کښې له‌هغوی‌سره مقابله باالمثل وکړی، مګرفتح‌اوبری دهندمغولی پاچاهانو‌په‌برخه شو دوی ډېرلوړې شعر فهم اوشعر روزونکی وو، بلکه پخپله‌هم زیاتره شاعران اوپوهان وو. لخینی‌له‌دوی څخه‌په‌شعر ویلو کښې تردې‌اندازې مقتدرؤ چه‌ددربار په‌شاعرانو باندی به‌ئی په‌لخای ایرادونه نیول؛ او هغوی به ئې له‌خپلو اشتباهاتوڅخه کهڅه‌هم هغه به خورا جزئی هم وې، خبرول پدې‌لړ کښې له‌شعرپوهیدونکو امیرانوڅخه بیرم‌خان اوعبدالرحیم خان‌خان خانان وو دوی هغسی‌چه‌دشاعرانو په‌تربیه کولو کښې وتلی مربیون‌وو، پخپله هم‌خورا مقتدر شاعران‌وو او اشعارئی ددوی ددربار له ستر و شاعرانو څخه بهتر او عالی ترووداادعا له‌هغې مقایسې‌څخه چه‌شبلی د خان خانان غزل له‌نظیری

سره مقابله کړی دی په جوته ډول څرګند یې دشعر دفن دترقی او پر مخ تګ لپاره ابو الفتح (ګیلانی) اوعبدالرحیم خان خانان (دبیت العلما) په نامه اکادمی جوړه کړه چه بدې موسسه کښی به ئی شاعران د شعر په مختلفو فنونو کښی روزل جلال الدین اکبر ، که څه هم پخپله دشبلی په تصریح بی سواده وٴ ، مګر تر دې اندازی ذوق خاوند ، او شاعر بالونکی وٴ چه یوزیات شمیر شاعران به دا کبر په دربار کښی موجودوو ، اودا کبر په زمانه کښی وو چه دملك الشعرائی مقام په هند کښی مروج شو اودلومړی ځل لپاره غزالی په دغه ستره مرتبه سرلوړی بیامیندله شبلی دشعرالعجم خاوند دا کبر ددربار له یو پنځوس شاعرانو څخه یا دونه کوی ، چه دهغو شاعرانو مطلق اکثریت دخراسان اوایران شاعرانو تشکیل کړیوٴ جهانګیر چه پخپله هم لیکوال او په شعر پوهیده تردې اندازی پوری د خبری په نقد کښی مهارت درلود چه هر کله چه دکوم شاعر دشعر په باره کښی به ئی د فګر اظهار وکړ ،دده دانتقاد په مقابل کښی په ټول لاخواب اوپته خوله پاته کیدل دوی ټول لیکوال ، شاعران ، اوادیبان وو ؛ اودشعر په مختلفو علومو کښی ئی بشپړ کفایت در لود . شعرالعجم لیکی:

یووخت کوم شاعر د جهانګیر په مدح کښی یوه قصیده وویله اودهغه حضورته ئی تقدیم کړه ، دسر مصرع داوه (ای تاج دولت برسرت ازابتدا تاانتها ) جهانګیر له هغه پوښتنه وکړه چه په عروضو پوهیږی ؟ شاعرووویل چه نه ؟

جهانګیر وفرمایل که ته په عروضو پوهیدی ستاپه وژلو به حکم صادرشوی وو ، دهمصرع پخپله تقطیع او شاعر ئی پوه کړچه له دوهم رکن څخه (لت برسرت ) ترکیب حذ ډیزی اوبه دې صورت کښی سخته بی ادبی ده .

دجهانګیر له آثارو څخه د نوموړی تذکره په خاص اوعامو کښی معروفه او مشهوره ده هغه شاعران چه به دغو دربارو کښی تربیه شوی اوژوندئی کړی دی، ددې لپاره چه ددوی کلام دممدوح په روح کښی اغیزه ولری اودهغه توجه زیاتره ځانته راجلبه کړی، په دې پسې به ئی تلاش کاوو چه په شعر کښی بکرموضوع اوبدیع مضامین ابداع کړی، تر څوچه دمخاطب اوممدوح دمنلو وړو ګرزی له دی کبله هغه څه چه بدې دوره کښی څرګندشو په ادبیاتو کښی نوی سبك دی چه به هندی سبك سره شهرت لری، که څه هم ددې سبك مقدمات د لر غونو شاعرانو په اشعارو کښی لیدل کیږی اما دتیموری پاچاهانو دسلسلې په زمانه کښی مخصوصا دسلطان ابوسعید، او سلطان حسین په دوره کښی یې په مشخص اوڅرګند صورت سره تبارز وکړ اودهند دتیموریانو په دربار کښی یې اوړوالی و مینه چه مونږ په خپله موقع کښی ترځانګړی عنوان لاندې په دې موضوع باندی مفصل بحث اوڅېړنه وکړو .

دادی په لاندې ګرښو کی، دتیمور دزمانی دشاعرانو دشرح حال په لیکلو بوختیږو :

امامی هروی : قاضی محمد بن قاضی عبدالله د خراسان له قضا تو څخه و . دی د تیمور د عصر له شاعرانو څخه د ی ؛ تخلص ئی امامی وو : دی د تیمور دحکمرانی په زمانه کښی په هرات ، اودهغه په اطرافو کښی دقضا په امر مشغول و ، دی په ۸۳۸ هجری قمری کال کښی وفات شو ؛اوپه ګازر ګاه کښی ښخ شو . ده په شعر اوشاعری کښی وړ مهارت در لود دابیت دده دی :

ګفتمش گلها زرخسار توآید رنګ رنګ
غنچهٴ او در تبسم شد که از ګل ها چه ګل

ارغون : نومئی او کنیت بی معلوم نشو ، خواصلا د هراتوٴ اوهم په هغه ښار کښی وفات شویدی . دخیمی ګند لو کسب ئی درلوده ؛ شعرئی هم وایو . ده مخصوصاً دمعما په فن کښی تام مهارت درلود ، اوداتم اونهم قرن په منځ کښی یې ژوند کاوه ؛ دغه معما دمحمود په نامه دده ده :

ای زجام حسن سرخوش سوی محمودی ببین
زانکه اشك خویش را پیوسته در زیر جبین

خرمی : اصلا دهراتوٴ ، اوهوری ئی روزنه میند لی ده ، دده ډېره زمانه په مسافرت کښی تېره شویده ؛ خراسان، عربستان بیت المقدس حجاز اونور ځایونه ئی لید لی دی . ده د هجر ی په اتمه پیړۍ کښی ژوند کاوه . ریاض الشعرا ، نوموړی دامیرشیرعلی اوجامی له معاصرینو څخه بولی ؛ اووائی چه پاچا اواعیانو به دده قدر کاوو ؛ اودعزت په سترګه به ئی ورته کتل. دنوموړی دغه غزل دتحفة الحبیب امیری له یوې قلمی نسخی څخه اقتباس شو :

سرشك خون که فتد دمبدم ز چشم تر من
شرار هاست که افتد ز آتش جگر من
صبا بچشم ترم کش غبار از سر آن کوی
که خاك رهگذر اوست سرمهٴ بصر من
گذشت آنمه و ماندم بفکر صورت خو بش،
برفت عمر و خیالش نرفت از نظر من
پس از وفات خدا را بتر بتم قدمی نه
دران زمان که شوم خاك پاه مه کش زسرمن
چسان بمنزل آن ماهرو روم شب هجران
چنین که گل شده از آب دیده رهگذر من
نه قاصدی که پیامی از ان بسوی من آرد
نه محرمی که به آن بیخبر برد خبر من
اگر بعشق شدم شهره خرمی نبود عیب
چرا که نیست بجز عشق و عاشقی خبر من

یقینی هروی : مولانا یقینی په پارسی اوترکی شعر و یلو کښی بشپړمهارت درلود ؛ داثار هرات دلیکنی په‌قرار ، دبراخ خلق خاونداودلوړقدرځپنتن‌وو. دده‌قبرد(دو برادران ) په کلی کښی‌دی . دغه‌غزل دنوموړی دبکرفکر اثردی :

جان فدایت غافل ازحال من بیدل مباش
میدهم‌جان درغمت ازحال من غافل مباش
آفتاب هر رو اق و ماه هر منظر مشو
پا د شاه هرگدا و میر هر محفل مباش
جان‌فزا همچون‌صبا مگذر بسوی هرچمن
چون صنوبر از نسیمی‌هرطرف مائل‌مباش
یار اگر آید برای خیر بادم روز مرگ
ای‌اجل بهرخدا، آنروز مستعجل مباش
ای یقینی ، چند فکر عالم فانی کنی
پیش ازین‌اندیشه مند ملك‌آب‌و گل‌مباش

سید شرف‌الدین رضای سبزواری : دشاهرخ‌میرزا دزمانی شاعر دی ؛ او دسربدارانو په زمانی کښی یې د وزارت رتبه در لوده ؛ او د شاهرخ په‌دوره کښی د سبزوار سلطنتی مهمی چاری په لاس کښی درلودی . دده کلام د عرفان او د تصوف جوش اونشه‌لری . په۸۵٦ هجری‌کال کښی دبا غیانو له لاسه شهیدشو . دغه‌غزل‌ئی چه دامیر خسرو دهلوی بلخی په اقتفا ئی و یلیدی ، شهرت لری .

تاچند زمستی سرو پا را نشناسیم
اورا نشناسیم و خدا را نشنا سیم
مایوسف جان‌را به‌دوسه‌قلب‌خریدیم
معذ ور همی‌دار ، بها را نشنا سیم
نه مفتی د ینیم و نه قاضی ولایت
از باب صفت مر د ریارا نشناسیم
میر یم و سلام امرا را نـگز ینیم
سوزیم و فر یب وزرا را نشناسیم
در ملك فنا ماوتو موجود نبا شیم
ای خواجهٔ عارف تووماراً نشناسیم
ای‌خواجه درین کوی که مارا طلبی تو
مطلب که بجز کوی رضا را نشناسیم

شمس‌الدین محمد تاوکافی: یوتن د هرات لـه متعبـدو اومتبحروپوهانو څخه ؤ ؛ د نهمی پیړۍ په اخرنیو کلو کښی ئی‌ژوندکاوه ؛ دارادت په طریقه کښی دشیخ زین الدین فانی له‌خلیفه گانوشخه‌ؤ دده له‌اثارو څخه دیردې دقصیدی مخمس اودمنازل السائرین کتاب‌شرح‌ده دی‌په۸۹۲ هجری کښی وفات اودهرات په‌خیابان کښی خاورو ته وسپارل شو دده لـه اشعارو څخه‌دابیت یادگاردی :

آنانـکه بجز قامت سروت نـگرانند
گر راست نگوئی همه کوتاه نظرانند

علی‌بدخشی: نوم‌ئی علی‌داسدزوی‌اودبدخشان‌دی‌دی سربیره په‌دې چه‌ډیره پوهه اوفضل‌یې در لود شاعـر هـمؤ د بدخشان دپاچاهانو چه‌حکومت‌ئی دابوسعید په لاس منقرض شو ؛ مدح به‌ئی‌ویله . عبدالحکیم ولواجی رستاقی د چراغ انجمـن خاونه. دده تخلص ظریف بللی‌دی، دابیت دهغه‌دی .

زدلبری نشود سیر هـر کـز ای دلبر
کسیکه‌دل بتو داد ، اوز دل نیا بد بر

سید کمال کـجلول : دامیر علی‌شیر دتوضیـح ، اودهرات دآثارو په روایت ئی ډیر اشعار درلودل ؛ دنوموړی اشعار ئی پنځه‌سوه بیته گـنـلی‌دی مسکن‌ئی دهرات د آثارو په روایت به‌بلخ کښی ؤ وائی‌دوه زره‌بیتی قصیده‌ئی درلوده ؛ امیرعلی‌شیر دده له‌هغو گردو آثاروشخه دابیت د نومړی انتخاب کـړیدی

ای روشنی ازماه رخت دیدهٔ جانـرا
برخاك نشا نیده قـدت سرو روان را

باباسودائی: دی‌په‌اصل کښی دخاوران دابیورد او دشاهرخ مـیرزا معاصرؤ لومـړی ئی خاوری تخلـص کاؤ ، اووروسته هرکلـه چه دی دعشق‌شور مجذوب کـړنو سودائی شو . دی دسمنگان په‌ناحیه کښی چه‌دده املاکو له جملې څخه ؤ په ۸۵۲ هجری‌کال کښی وفات اوهورې بنخ‌شو هرکله چه بابا تراتیاکاله زیات ژوند تیر کړی نوامکان‌لری چه‌د۷٦۲کال په‌حدودو کښی به‌زیږیدلې وی په‌شعرویلو کښی یې بشپړقدرت درلود اوددیوان خـاونددی دولتشاه‌دده دیوان لیدلیدی دغه‌غزل دده دکلام‌نمونه اوددده شعری قدرت هم راته څرگـند وی :

عنبرت خال ورخت ورد وخطت ر یحان است
دهنت غنچه و دندان در ولب مـرجان است
گوهرت نطق وزبان طوطی و فندق انگشت
ذقنت سیب و بـرت سیم و دلت سندان است
پیش دندان تو در بحر بدر ویشی در
گوش‌بگرفت که‌درویشی درویشان‌است
فرقت روی تو زاندازهٔ طاقت بگذ شت
بیش ازاین‌صبر ندارم کرم‌ازمردان‌است
میدهد جان بیـکی بو سه دل سودائی
گفتمش‌دل ندهی گفت که‌دل‌سلطان‌است

علی‌بدر: دشاهرخ میرزا د عصرشاعراودهرات دښارله‌ادباؤ څخه‌ؤ ده دادب په فن کښی مهارت در لود اوپه شاعری کښی دقدرت خاوند ؤ د تیموری شهزادگانو په مدح کـښی ډیری قصیدی لری ده‌په ۷۱۱ کال کـښی دا مد حیه دمیرانشاه لپاره ویلیده :

ای زمهر رخ تو ماه منور گشته
عالم از نکهت زلف تور معطر گشته
خط مشکین تو بر صفحهٔ کافور عذار
آیت حسن و جمالست مکرر گشته

شریف بلخی: اصلاً دبلخ ؤ د بدخشان دشاهانو مداحی به ئی کوله دمرآة الخیال دتذکرې په قرار ده سربیره پرشاعری په طب اوموسیقی کښی هم مهارت لاره ر یاض الشعرا اوماثر بلخ نومورې صاحب بلخی په شریفی سره معروف گڼلی دی امکان لری چه نوم به ئی «صاحب» اوتخلص به ئی شریفی وی لکه ده ده غه تخلص دده غزلیانو له مقطع گانو څخه څرگند ېږی دغه غزل دده دی :

غزل

بسکه سیل غمت ازدیده دمادم گذرد
روزهجر تو مراچون شب ماتم گذرد
مرهم ریش دلم رازخدنگ مژه ساز
بیش ازان دم که مرا کار زمرهم گذرد
آنکه درعالم سر مستی ورندی جا کرد
جای آنست که آن از همه عالم گذرد
مکن اندوه شریفی زغم و غصهٔ دهر
روزگاریست که بی غم نفسی کم گذرد

مولانا یوسف بلخی: هغسی چه نصرآبادی وائی دی دمولانا سعدالدین تفتا زانی معاصرؤ لکه چه ده د نومورې مولانا په مرگ باندی دغه لاندی قطعه و یلی ده :

آفتاب شرع وملت سعد تفتازان چورفت
آب چشم آمد چوسیل وبلغ السیل زباه
عقل را پرسیدم از تاریخ سال رحلتش
گفت تاریخش یکی کم طیب الله ثراه

له پورتنی قطعی څخه څرگندېږی چه مولانا یوسف پس له ۷۹۲ هجری یعنی دنهمی پېړی په لومړی برخه کښی له فانی نړۍ څخه خدای پامانی کړیده .

خلقی: دبلخ له شاعرانو څخه ؤ دی یو خوږ ژبی شاعر اودغه مطلع دده ده :

ای سرو ناز دردل ماجانمی کنی
جا میکنی و لی بدل ما نمی کنی

صاحب مذکر احباب خلقی داشان معرفی : کوی له خوږ ژبو مشهورو شاعرانو څخه دی او له خلکو سره به ئی په ښه خلق معامله کوله ښه اشعار او مرغو به طبع لری . دغه مطلع ئی مشهوره ده :

دلم تحمل بسیار دور ازان گل کرد
ازان گذشت که دیگر توان تحمل کرد

دی دحرمینو شریفینو په زیارت مشرف شوی او په (۹۸۷) هجری کال کښی وفات شوی اودحضرت مرتضی علی دروضی په غنگ بوری خښ شویدی . دابیت هم دده دی :

دردا که و صال تو تمنا نتوان کرد
خور شید جمال تو تمنا نتوان کرد

☆ ☆ ☆

روجی : له هغو شاعرانو څخه دی چه دامیرعلی شیر په مجالس النفایس نومی تذکره کښی ذکرشویدی. دامیر پقول دی دهرات دغوریانو دروج اوسېدونکی دی .

دی یوخوږژبی اوشرین کلام شاعر ؤ، د غه مطلع دده ده:

نمی خواهم که کس یابد زسر حالم آگاهی
وگرنه عالمی سوزم بیك آه سحر گاهی

☆ ☆ ☆

شکری : دامیرعلی شیردتذکرې په قرار ، دهرات اودمولانا سیفی معاصر ؤ، حسن خواجه په مذکر احباب کښی لیکی چه مولانا شکریؒ دنوخیزو اوشکرریزو شاعرانو له جملی څخه دی، اودغه مطلع ده ته منسوبه ده :

بنا کامی جدا تاچند باشم ازسر کویت
بودروزی که یابم ره بکام خویشتن سویت

دچراغ انجمن خاوند داخلوریځه هم دده په نوم قید کړی ده:

گردون تا کی ز تو دلم خون باشد
جا نها زا لمهای تو محزون باشد
زانرو که توهم دونی وهم دون پرور
نبود عجب ار نام تو گر دون باشد

☆ ☆ ☆

شیخ زاده پورانی : پوران دهرات له توابعو څخه یوه ناحیه ده چه شیخ زاده هم له هغه ځایه بورته شو یدی . دی دابو سعید پورانی زوی دی . د نوائی په وینا نومورې د پر آثار درلودل اوداتمی اونهمی پېړی په منځ کښی یې ژوند کاوه . دارباعی دده ده :

چون من بغم تو در جهان مردی نیست
دل سو خته نا زبر وردی نیست
خواهم غم ودرد خویش را شرح کنم
لیکن چه کنم که هیچ همداری نیست

☆ ☆ ☆

شیخ بایزیدپورانی : دی هم له ذکرشوی کورنۍ څخه دی دخط په فن کښی یې بشپړ مهارت درلود او مخصوصا نستعلیق ئی خورابنه لیکه ده په ابتدا کښی د تنگسو اومشکلاتو څخه پک ژوند درلود . وروسته ئی سیاحت غوره کړ بخت له ده سره یاری

وکړه اودمرتبی خاوندشو.حسن خواجه‌لیکی : چه دنیائی‌سامان
ډپر لاسته‌ورغی، اودده ورځینی مصرف دباچاهانو له‌خرڅ څخه
څه‌کم نه ؤ، شعرئی هم‌وایو دامطلع دده ده :

نه‌آن خشتست برهم قبرهای درد مندانرا .
قضا بر یکدیگر چیده‌است‌دفترهای هجران‌را

مشرقی : په‌اصل کښی هراتی ؤ. په خط لیکلو کښی یې
بشپړ مهارت درلود اوله‌هغی منبع څخه به‌ئی‌دمعیشت ضرور یات
راغونډول . ده دتیمور داولادې په‌دوره کښی ژوند کاوه او ښه
شعرئی وایو، دامطلع دنوموړی دقریحی اثر دی :

گو هراشك نثار ره یـاری کردم
شادم‌ازعاشقی‌خویش که‌کاری کردم

مسیحی : په‌اصل کښی دفوشنج ؤ. دی دتیمو ری کورنی
دشاعرانواوفاضلانولهجملی څخه ؤ. که‌څه‌هم‌زاهد اوپرهیز گـار
سړی ؤ اودکعبی شریفی په‌زیارت هم مشرف شوی ؤ ، خوسره
له‌دې ئی شوخه طبعه هم درلوده. داغزل دده دی :

غزل

آن غمزه زخون ریختن استاد ندارد
بـا آنکه درین ضابط استـاد ندارد
گفتند مقامی به صفا خانه تقوی است
دیدیم بدو ران تـو بنیـاد نـدارد
زان لعل‌لب‌ای دل‌مطلب‌کام که‌شرین
از سنگدلها غـم فـرهـاد نـدارد
شادی‌مطلب‌خواجه که دردوردوزلفش
یك بنده دل از بند غم آزاد ندارد
ازعشق چه لذت بود آن زنده دلی را
کز نظم مسیحی غزلی یـاد ندارد

هاشمی صدیقی : خواجه جلال‌الدین ها شمی صدیقی دهرات
دی. دحسن خواجه په‌قول دهرات له‌سترومشایخو اولویو پوهانو
څخه دی . دشیخ‌الاسلامی منصب له یخواوختو څخه دغه‌خاندان
ته ور کړ شویدی . دهرات د اثارو په کتاب کښی هراتی اوبه
آتشکده کښی دبدخشان بلل شو یدی . مگر له هغه کـبله چه
نوائی اوحسن خواجه له دهسره معاصران وو، هغوی حق په‌جانب
دی. نوموړی دنوی کلو په عمر په۹۳٤ هجری کښی وفات‌شوی
اوپدې ترتیب سره نوموړی خواجه به ۸٤٤ هجری کال کښې
زېږېدلی دی . دمذکر احباب په‌قول دغه مطلـع دده ده چـه
دقبر په‌تیږه باندې بې هم کیندل شویده :

قبرم‌مکن طواف که بی‌هوشی آورد
لوح مرا مخوان که فراموشی آورد

دغه غزل هم دده دی :

چوسنبل تو زگـلبرگ یا سمین برخاست
زرشك، در دزگـلهای آتشین برخا ست
چوحالت خط و خال تو در میان آمد
حنون زسلسله عقل خورده‌بین برخاست
چو برصحیفهٔ حسنت خط غبار دمید
زجان خسته‌دلان نالهٔحزین برخواست
زبسکه بیش قدت بنده بود سرو چمن
باحترام تو آزاد از زمین بر خـاست
چوهاشمی بگلستان سرورشوق تو گفت
زبلبلان همه گلبـانگ‌آفرین‌برخاست

☆ ☆ ☆

عارفی‌هروی : عارفی دشاهرخ میرزا ، او با یسنقر دوخت
له مقتدرو شاعرانو څخه ؤ . نومئی محمد او عارفی ئی تخلص
درلود . دی‌ئی په دوه سبیه دشاعری په فن کښی دوهم سلمان
ساوجی بللی‌دی : یو دستر گـو دخوږو په واسطه چه دی هم
دسلمان ساوجی غوندی د ستر گو په‌درد اخته‌ؤ اوبل‌داچه‌دسبك
دنظر له‌نقطی څخه یې‌له‌سلمان ساوجی سره‌سم شباهت درلود.
ده یوه مثنوی د (حالنامی) په‌نامه ویلیده چه په گوی‌اوچو گان
معروفه ده ، اوهغه‌ئی په۸٤۲ هجری کښی چه۲هفتو کښی جوړه
کړی‌ده . سر بیره پردې‌ئې (مالابدمنیه) دحنفی مذهب دمسائلو
کتاب هم په نظم رالپولیدی ؛ اوهم‌ئی یوه (دهنامه) دخواجه
غیاث الدین پیراحمد بن اسحق خوافی په نامه ، چه‌نوموړی‌د
شاهرخ وزیر اوبه ۸٤۲ هجری کال کښی دمخالفینو دسعایت په
سبب دابوالقاسم بابر میرزا په‌امر ووژل‌شو ، ایکلیده .عارفی
یو دیوان هم لری چه خورا ښی ښی غزلې اوعالی‌عالی قصیدې
یکښې دی ، نوموړی په ۷۹۱ هجری قمری کال کښی زېږېدلی
اوبه ۸۵۳ هـ کښې‌د٦۲کلو په‌عمر دهرات په ښار کښی وفات‌شو
دغه‌خورا عالی غزل دده دقریحی اثردی :

بسر خم که نیا یم بدر از میخانه
تا به‌آندم که مرا پر نشود پیمانه
باده‌پیش‌آر چه‌جای سخن جام‌جم‌است
را ستی راکه ند ارم سر این افسـانه
چشم ساقی اگر اینست که من‌می‌بینم
سر مهٔ د یده کـنم خـاك در میخـانه
عقل پروانه‌ومی، شمع شب افروز بود
در سر شمع شب افروز شود پروانه
عارفی چون زدر صومعه کارت نکشاد
خیز در گوشهٔ می خـانه نشین مردانه

☆ ☆ ☆

بدخشی : مولانا محمد په بدخشی متخلص داشکمش او له الغ بیګ میرزا تیموری شهزاده سره معاصر ؤ ریاض الشعرا دهغه نوم حمید او وطن ئی قندز شو دلی دی . نو موږی خپل تحصیلات په سمرقند کښی تمام کړی او دالغ بیګ په دربار کښی دمقام خاوند شو. بدخشی له هغو شاعرانو څخه دی چه زیاتره ئی دمعما په فن کښی مهارت درلود . ده په دې فن کښی یوه رساله هم لیکلی ده . ده دالغ بیګ په مدح کښی غرا او اوزدی قصیدی هم ویلیدی دابیت دهغو قصیدو له جملی څخه دیوې قصیدی مطلع ده :

ای زلف شب مثال ترا در بر آفتاب
ازشب که دید سایه که افتد برآفتاب

بدخشی لو مړی د الغ بیګ په دربار کښی په عزت او احترام سره ژوند کاوه . خو په اخر کښی بی کاره نه ږ ته ورسیده اودژوند نظام ئی وران شو . وروسته پښیمانه شو توبه ئی وښکه او په ۹۲۹ هجری قمری کال کښی وفات شو . دالاندی غزل ده دی:

مشاطهٔ که موی ترا شانه ساخته ارباب عقل راهمه دیوانه ساخته
ازقصهٔ سکندر و دارا مګو که چرخ
بسیار ازان حکایت و افسانه ساخته
پیمانه گیرو ساغر صهبا طلب که دور
سرها بسی که ساغر و پیمانه ساخته
درسینه خراب چو گنجیست مهر تو
کارامګاه خویش بویرانه ساخته
تاساخته سګ تومرا آشنای خویش
ازخویش وآشناهمه بیګانه ساخته
ازدوزخ وبهشت نشان داده خلق را
آن عارفیکه مسجد و بتخانه ساخته
چشم بدخشی ازپی ایثار مقدمت
مردم هزار گوهر یکدانه ساخته

امیرشاهی سبزواری: امیر شاهی چه دسربدارانو کورنی ږ ته منسوب دی، اصلاً دشین ډند (سبزوار) ؤ نوم ئی ملك اودملك جمال الدین زوی دی په شعر کښی یې تخان په «شاهی» سره متخلص کاوه دی دبایسنقر میرزا تیموری ددربار له مقربانو څخه ؤ هرکله چه نوموړی په شاعری، موسیقی، دیری، نقاشی ، اوظرافت کښی ښه لاس درلود نودبایسنقر د توجه مورد و ګرزېدی اودهغه دخاصو ندیمانو څخه ؤ شاهی په پای کښی د بایسنقر له دربار څخه ګوښه غوره کړه او دشهزاده له نظره ولوېده اوبه هغو مخکوئی چه په سبزوار کښی شاهی کور نی ږ ته منسوبی وی ګذاره کوله دنذکرو خاوندان دبایسنقر له دربار څخه د شاهی دلری کېدو په خصوص کښی اختلاف نظرلری دامیرشاهی وفات په استرآباد کښی په ۸۵۷ هجری قمری کال کښی واقع شویدی اومړی ئی له هغه ځایه سبزوار ته راوړشو نوائی دنوموړی په مرثیه کښی داسی ویلیدی :

گو بشوز یروز براز اشك وآهم سبزوار
زانکه ملك شاه بی شاهی نمی آید بکار

شاهی یودیوان هم درلود چه په تورکیه کښی چاپ شویدی داغزل دده دی :

این دیده بسی فتنه ز بالای تو دیده
صد گونه بلا از سر زلف تو کشیده
دیوانه شده عقل درآندم که بشوخی
لعل تو فسون خنده و خط تو دمیده
با اینهمه شرینی ولطفست ولی قند
پیشت زتحیر سر انګشت گزیده
تا اشك غبار ازره آن باز نشانده
بسیار دویده است و بګردش نرسیده
زان گونه که قندیل فروزند بمحراب
دل سوخت درآن طاق دوابروی خمیده
باسیل دوچشمم چه بود قصهٔ طوفان
از دیده بسی فرق بود تابه شنیده
شاهی هوست بود حدیثی زد هانش
افسوس که رفتی ز جهان هیچ ندیده

☆ ☆ ☆

نورالدین عبدالرحمن جامی: مولانا نورالدین عبدالرحمن جامی د ۸۱۷ هجری قمری کال د شعبان په ۲۳ نېټه دجام دخرګرد په کلی کښی زېږیدلی دی دیلار نوم ئی نظام الدین احمد اودشمس الدین محمد دشتی شیبانی زوی ؤ مولانا خپل لومړنی تحصیلات په هرات کښی و کړل او بیاسمرقند ته لاړ اودحضرت قطب الاقطاب خواجه عبیدالله احرار خدمت ته ورسېد اودهغه دطریقت په سلسله کښی داخل شو جامی خپل تحفة الاحرار دهغه مبارك په نامه ولیکه څه موده ورو سته بیرته هرات ته راغی اوپه هرات کې په روزنه تدریس اوتالیف باندی بوخت شو جامی په مختلفو علومو کښی ډېر آثار ولیکل تحفةا لسامی دجامی ٤٦ آثار ذکر کړیدی جامی ورو سته له شپېته کلنی ږ څخه دحج په نیت بیت الله شریف ته لاړ دبیت الله شریف له زیارت څخه وروسته بیرته مخ په وطن راړهی شودلاړې په ترخ کښی دبغداد له متعصبینو څخه خپه شو اوخپل یومعروف غزل ئی دهغی موضوع په باره کښی ووایه چه مطلع ئی داده :

بکشای ساقیا بلب شط سر سبوی
وز خاطرم کدورت بغدادیان بشوی

جامی پس له هغې چه بیرته هرات ته راغی دامیر علیشیر له خوا چه دجامی له شاګردانو اوخاصو ارادتمندانو څخه ؤ په ډېرو تحفو او یوی علمور یخی سره ، چه لاندی لیکل شوی اوترټولو زیاته دجامی دمنلومور دواقع شوه، استقبال شو نوموړی علمور یخه داده :

انصاف بده ای فلك مینا فام
زین هردو کدام خوبتر کرد خرام
خورشید جهانتاب تو ازجانب صبح
یاماه جهانگرد من ازجانب شام

☆ ☆ ☆

مولانا جامی به۸۹۸ هجری‌قمری‌کال کښی په هرات کښی وفات اوهماغلته دفن شو(دجامی دشرح حال د تفصیل لپاره دی دجامی عنوان ته رجوع وشی ) دحضرت مولانا جامی د کلام دنمونې‌لپاره دالاندې‌غزل کافی‌دی :

بودم آنروز در ین میکده از درد کشان
که نه ازتاك نشان بود ونه ازتاك نشان
ازخرا بات نشینان چه نشان می طلبی
بی نشان مانده ازایشان نتوان یافت‌نشان
هریك ازماهوشان مظهر شان دگرند
شان آن‌شاهدجان جلوه گری ازهمه‌شان
جان فدایش که بدلجوئی مادل شد گران
میرود کوی بکو دامن اجلال کشان
در ره میکده آن به که‌شوی خاك ایدل
شاید آن‌مست بدین‌سو گذرد جرعه فشان
نکتهٔ عشق بتقلید مگو ای واعظ
بیش ازین باده بچش چاشنیء هم بچشان
جامی این خرقهٔ پر هیز بیند ازکه یار
همدم بی سرو پایان شود ورندو شان

شیخ احمدسهیلی : شیخ احمد سهیلی‌دخراسان له‌بزرگانو څخه یوتن وٗ، په‌اول کښی د ابوسعید په دربار کی وٗ، بیایی دسلطان حسین په‌حضور کی شل کاله په‌ښه عزت ژوند وکړ . نوموړی په نظام الدین شیخ احمد سهیلی، یاپه شیخم اویا په (شیخم بیګ) مشهور وٗ. سهیلی په‌دری، عربی اوپه ترکی ژبو اشعار درلودل، اودقصیدو اوغزل یاتواونورو اشعارو یودیوان لری . دی په‌طریقت کی دشیخ کمال‌الدین‌حسین ګازرګاهی مرید اولاس‌نیوی ئی‌ورڅخه کړی وٗ، اوپه تصوف کی دپو ره کمال خاوند وٗ، کمال الدین حسین واعظ کاشفی ، خیل‌انوار سهیلی دهغه په‌نوم او مشوره لیکلی دی . نو موړی په(۸۱۱هـ) کی مړشوی دی . دالاندی غزل دهغه دی :

صبا می آید اما از دیار یار با یستی
شمیم‌سنبلش‌همراه ازآن گلزار با یستی
فرامشکارمارا از پی انصاف اهل دل
مدام آئینهٔ درپیش آن‌رخسار بایستی
پری‌رویان‌فریبم میدهند ازبهردل‌بردن
بروز این چنینم آن بت عیار بایستی
چرابرچون‌تو آتشپارهٔ‌مفتون شدم‌وه‌وه
بهر یکره که میسوزانیم صدبار بایستی
جمال بی‌بدل داری‌ولی‌بسیارجان فرسا
دریغا اینچنین‌رخسار بی‌آزار بایستی
بخاك‌تیره بردم ازتو بسیار آرزو لیکن
زمانی وقت مرگم‌دولت دیدار بایستی
زسامانش‌غرض‌قطع‌زبان‌مردم است‌ازتو
(سهیلی) راکه گوئی شیوه‌مجنون‌وار بایستی

امیرعلی شیرنوائی : امیرعلی شیر چه دکو چنیتوب له وخته څخه له‌ابوالغازی سلطان حسین بایقرا سره‌انیس اوملګری وٗ ، اودهغه دباچهی اواقتدار په‌وخت کی هم‌له‌هغه همکار او ملګری اوورسره ناسته ولاړه یی وه . اودعلی‌شیر شهرت اولوړ توب نه یواځی‌له‌دې جهة وٗ، چه‌دی دشاعرانو اولیکونکو اوخطاطانو اونقاشانو اوطلاکارانو اومعمارانو او نورو داسی کما لدا رو خلکو حامی اومربی وٗ، بلکه له‌دې کبله وٗ ، چه‌دی یځیله هم لوی شاعر اویوفاضل اوبوه اوپیاوړی لیکونکی وٗ، امیر علی شیر په‌پارسی اوترکی ژبو کښی پوره مهارت درلود ، اوپه ترکی ژبه کښی دپره زیات قدرت درلود، اوځلور دیوانونه‌یی په‌ترکی ژبه کی جوړ کړی وو، اودنظامی د خمسی په سیالی یی یوه خمسه هم په‌ترکی ژبه لیکلې وه ، اوسربیره پرنظم دپارسی اوترکو په‌نثر کی هم‌ښه‌قدرت لاره ، اوزیات آثار یی لیکلی دی .

دالاندنی غزل هم دده دی :

وه‌که دروقت گلم زان گل رخسار جدا
گل جدا آتش من تیز کند خار جدا
چه فراقست که‌جانان چو جداگشت ازین
دل زجان گشت جدا جان زتن زار جدا
آن پری پیکر ازآن خسته‌جدائی طلبد
همچو جانی که شود از تن بیمار جدا
درو دیوار ز هم گشت جدا بسکه زدم
سر جدا بر درآن کوی بدیوار جدا
فانیا جام میئی نوش درین دیر اگر
بیخودی خواهی از آن دلبر خمار جدا

( نور تفصیل دې د «امیر علی‌شیر نوائی» په عنوان کی وکتل شی) .

سعیدی : داتمی اونهمی‌پیړۍ په‌منځ کی‌ئی‌ژوندرلود، دی په اصل کی دهرات وٗ، دی په اول په کاسه ګری بوخت وٗ، وروسته یی په شاعری بیلو کړ، په‌دغه‌فن کښی‌یی ښه واقفیت درلود، اودمرګ تر وخته پوری په هرات کی وٗ ، اوهمغه ځای کی ښخ‌دی اودالاندینی دوه بیتونه دده‌دی :

زبهر قطع هستی حیله ازهرجای انگیزم
مگر یك لحظه باآن دلبر خودرای آمیزم
شبی بنشین و چندانم شراب بی حسابم ده
که نتوانم تاروز حساب از جای برخیزم

زلالی: دروخة الصفاء اوآتشکده اومجالس النفائس دلیکنو له‌مخی هرگندپنځی چه‌په‌هرات کی دوه (زلالی) نومی په یوه زمانه کی وو، اوپه‌یوه وخت کښی‌یی ژوند درلود، او دواړه شاعران وو، اوچه ددواړونوم اوشهرت اودزپنځیدنی او مړینی نیټه نه‌ده معلومه نوتمیز یی نه‌سره کښنځی .

اودالاندینی مطلع دیوه ده :

اپلی عذاری میرسد دامن گشان درخون من
دیگر ندانم چون شود حال دل مجنون من

اودالاندینی اشعار هم دیوه دی :

کرد زلیخای صبح، پیرهن صبر چاك
راز دلش فاش شد، برسر هر انجمن
داد بزال سپهر طرفه تر نجی زمهر
طرفه که‌شد برترنج برسر اوتیر زن

اودالاندی مطلع هم دهغه ده

نخواهی گرد پادرخار خار سینه چاکم
مگرروزیکه گیرد دامنت‌خارسرخاکم

نورای جامی : دی د نورالدین عبدالرحمن جامی، ورووردی اودی دفضل اوکمال خاوند ، اوسلیمه طبعه اوکامل ذوق یی درلود . دامیر علی‌شیر دوینالهمخی ده ظاهرن او باطنی علوم بشپړ کړی وو، په‌موسیقی او نورو فنو نو کښنځی هم شهرت در لود .

دالاندینی رباعی دده ده :

این باده که من بی تو بلب می آرم
نه از بی شادی وطرب می آرم
زلف سیه تو روز من کرده سیاه
روز سیه خویش بشب می آرم

اودالاندی غوره مطلع هم دده ده :

بام برآوجلوه ده ماه تمام خویش را
مطلع آفتاب کن گوشهٔ بام خویش‌را

بقائی‌هروی : میرزا ابوالبقاءهروی چه‌په‌شعر کښنځی بقائی تخلص ؤ، یوشاعرؤ، اودتیموری کورنیو داخرنیو زمانی له شاعرانو څخه‌ده، دی په هرات کی زپنځیدلی اوهلته یی مدفن هم‌دی اوپه هغه ځای کی په‌شهادت رسیدلی‌دی، اودده دشهادت نیټه اوتاریخ ( شمع‌مجمع علما مرد) دی، چه۹۵۳ کښنځی .

دالاندینی بیتونه د ریاض‌الشعرا خاونددده په‌نامه ثبت‌کړی‌دی:

نمی آئی بیابگذر ز فکر جستجوی من
که روی من درآئینه نمیماند بروی من
مگر خاصیت اشکست سیلاب بهارم را
که میروید نهال‌سرخ بیدازطرف‌جوی‌من
او داهم دده دی
درین معنا که دل حشمست شك نیست
سویدای دل است این مردمك نیست
داهم دده دی
کاشانهٔ ماروشنی‌شمع‌چه‌داند درخانه‌اگربودچراغ دل‌مابود

ابوطاهر بدخشی : دسلطان حسین میرزاله معاصرینوڅخه‌ؤ، اودبدخشان‌دی، دعلم دتحصیل‌دپاره هرات‌ته‌راغلی ؤ ، اوبیائی په‌دغه‌وطن کی استوګنه غوره کړه . دالاندی مطلع دده ده :

عاشقان را دل زهجرا نش بسی فریاد کرد
تاکه آمد ازسفر آن ماه دلها شاد کرد

شوقی‌هروی: دتیموری دودمان له وروستنیو شاعرانو څخه دی حسن خواجه‌دمذکر احباب خاوند لیکی چه‌بنه‌شوق لرونکی اشعاریی درلودل او دخوندورو خبرو خاوند ؤ .

دا لاندنیء بنه‌غزل دده دی :

زنازگر چه سخن بامن آن‌صنم نکند
بدین خوشم که سخن بارقیب هم‌نکند
زسائیه قدت ای سرو گلرخ آسودم
خدای از سرمن سایهٔ تو کم نکند
بسوختم علم قبر خود ز آتش آه
که چون سواره رسی‌توسن تورم‌نکند
نخواهم از سمتش ناتوان شوم ترسم
که ناتوانی من بیند و ستم نکند
چنین که فکر دهان‌تو برد شوقی را
عجب که روی بسر منزل عدم نکند

هاتفی هروی : دده نوم عبدالله دی او تخلص یی هاتفی دی. اوتذکرو لیکونکو دلیکنی اوپخپله دده دهرگندونی له‌مخی ، دی دمولانا جامی خوریی ؤ. هاتفی داسی یوشاعردی چه پخپل وخت کښنځی یی په‌مثنوی ویلو مشهورؤ ، او خومثنوی ګانی یی نظم کړیدی، اودده له‌مثنوی ګانو له‌جملی څخه، ثمر نامه (مظفرنامه) هفت منظر، شیرین وخسرو اولیلی ومجنون بشپړه شوی اومشهوردی . هاتفی نه‌یوالحی په‌نظم او مثنوی ویلو کی شهرت اومهارت درلود بلکه په‌غزل اوقصیده و یلو کی هم دکمال خاوندؤ، اویودیوان هم لری لکه چه‌پخپله دی وایی :

نگو ئی همی درفن مثنوی سخن را دهم زینت خسروی
بهر شیوه کز نظم کردم علم ستانم زدست عطار د قلم

دهم در قصاید بدان سان ندا  که خاقانی آنجا کندجان‌فدا
طریق‌غزل‌را بداند که‌چیست  کدامست‌خسروحسن نیز کیست

داغزل فخری امیری یخچل تحفة الحبیب کی دهاتفی په‌نامه ثبت کړی دی :

گرمن اسیر خاك در او شدم چه باك
هر کس که‌هست میشودآخر اسیرخاك
خواب اجل گرفت و ندیدم رخش دریغ
این بود عاقبت اثر بخت خوابناك
زحمت چه میکشد اجل از بهر کشتنم
آن غمزه بس که میزندم خنجر هلاك
تا هرطرف خیال‌تودردل در آیدم
شدسینه‌ام زشمع‌فراق توچاك چاك

ای(هاتفی) مرادخود ازجام‌می‌طلب
همت طلب کنند مدام‌ازدرون پاك
(هاتفی دې وکتل‌شی)

سید عبدالقادرهروی : سید عبدالقادراصلاهراتی‌دی ، اوپه هغه‌ځای کی‌لوی‌شوی‌دی اوهلته تربیه شوی دی ، اوپه‌شعرویلو کی‌یی شه‌مهارت درلود ، اوپه تهره دتاریخ دنظم کولو په‌فن کښی یی شه‌قدرت درلود . دنصرآبادی دتذکرې خاوندلیکی : چه‌د سلطان حسین بایقرادمدرسی تاریخ ، سیدعبدالقادرهروی په‌لاندی ډول په‌نظم کړی‌دی :

این عمارت که‌خیره گشت‌ازو  چشم صورت گران‌چین‌وخطا
اسم بانی و سال تاریخش  شاه سلطان حسین بایقرا

بنائی هروی : تذکره لیکو نکو دده نوم ( شیرعلی لقب یی کمال‌الدین دمحمد زوی‌سبز بناء ) لیکلی دی . او نوموړی په‌اصل کی دهرات‌ؤاوپلار یی‌دبنائی کسب کاوو ، اوکمال‌الدین دحضرت علی دروضی په‌تعمیر او ودانولو کی له‌خپل پلار سره زیات کومك کړی دی اوهغه یی پای‌ته رسولی‌دی . نوموړی سره له‌دې چه‌په‌ابتدا کی‌دودانیو او بنائی په‌کار بوخت‌ؤ ، خود علم ، کمال اوپوهنی په‌تحصیل هم‌لگیاؤ ، اوپه فارسی ادب او خطاطی اوموسقی کښې‌دخپل عصر د شاعرانو او خطاطانو او موسقی غبزوونکو سرحلقه‌شو . بنائی په‌اول کی له‌امیرعلی شیر سره دوستی لرله اودهغه زیات خپل‌ؤ ، خوله دې کبله چه ده په‌خپل طبیعت کی‌شوخی اوآزادې لرله نوددوی منا سبات سره خراب شول ، نوبی له‌هرات څخه فرار کړ او عراق عجم او ماوراءالنهر ته ولاړ .

بنائی ، دبهرام اوبهروز په‌نامه‌یوه مثنوی لیکلې او بشپړه کړې‌ئی‌ده ، اوهم‌یی‌شیبانی‌نامه دمحمد شیبانی په نامه لیکلې‌ده. اوپرته له‌دغو یی دوه نور دیوانونه هم ترتیب کړی‌دی ، اوله هغو څخه په‌یوه دیوان کښی‌یی چه‌دخپل ژوندانه په‌آخرو وختو کې‌په‌سمرقند کی‌دحافظ ددیوان په‌قتفا ویلی‌دی ، خپل‌تخلص (حالی) کړی‌دی ، لکه چه دالاندینی‌غزل بی‌چه‌د حافظ ددیوان دپرومیی غزلی په‌تتبع یی‌ویلی‌دی، ددغه مطلب شاهد دی :

سقاك الله یا ساقی افض را حا و ناولها
که‌آن یاقوتی آمد قوت جانهاقوت دلها
براه میکده گر گریهٔ دردی کشان گل‌شد
ببین کاخرچه سرمستان‌فرورفتند در گلها
بسرحد کمال‌آن‌رندروشندل‌رسد چون بدر
که گردد نیزهمچون ماه‌نو درقطع منزلها
فلك دورم فگند ازدولت شبهای وصل او
لیالی الوصل راحت یادلیل‌الخیر اوصلها
مشو ازناله شبگیرم ای محفل نشین رنجه
که‌فریاد جرس رسمیست دردنبال محملها
دراول قصهٔ غمهای خود بنهفتم از مردم
ولی این داستان انسانه‌شد آخر بمحفلها

فضیلت نیست غیرازرندی‌وعشق‌وجنون(حالی)
فعطل کل ما حاولت فی الدنیا وحصلها

مولانا محمد بدخشی : دعلی شیرنوائی له‌معاصرینو څخه‌دی اودیرش کاله یی‌دهغه‌په‌خدمت کی‌تیر کړی‌دی ، نوموړی‌مولانا دمعما په‌فن کی زیات قدرت درلود اوځینی‌رسالی یی‌هم په‌دغه فن کی لیکلی دی ، چه‌حضرت مولانا عبدالرحمن جامی هم‌دده ستاینه کړې ده ، اودالاندی‌بیتونه یی‌دده‌په‌ستایته کی‌ویلی‌دی،

این تازه گهر که گشته فائق  برهر گهری بنوربخشیست
هر کس که‌بدید آب ورنگش  دانست که‌گوهربدخشیست

دده دمعما رساله (ضابطهٔ حل معما) نومېزی او په‌لسمه پیړۍ کی محمدعلی نومی یوسړی دهغی‌شرحه کړې ده اوپه هغی کی‌ئی دمولانا نوم محمد اولقب یی کمال‌الدین لیکلی‌دی. دارساله په‌دې لاندی بیتو شروع کېږی :

ای واسطهٔ جو هر اشیا نامت  وی رابطهٔ گوهرانشانامت
ازنام تومشکل(بدخشی) شده‌حل  ای (ضابطهٔ حل‌معما) نامت

اودالاندی معما گانی هم دده دی :

## د افتخار په نامه :

سینه‌شد سوراخها ازتیرت‌ای ترك چگل
جانب زلف ورخت بیند زهرسوراخ‌دل

## دانجم په نامه

گرچه‌ازوصل بتان هیچ نشد حاصل من
مرکز هجر ترا دائره آمد دل من

## دحبیب په نامه

ترا تبخاله بـرلبهای خـندان حبابی بر کـنار آب‌حیوان

حقیری : نوم‌یی شهاب‌الدین محمد اوتخلص یی (حقیری)ؤ نوموړی ەسلطان حسین دزمانې له مشهورو شاعرانو څخەؤ ، دغزلو اوقصیدو په‌ویلو کې یی بشپړ قدرت درلود ، لـسکه‌چه نصر آبادی لیکی : چه‌دده څوقصیدی مالیدلی‌دی‌اورښتیا چه‌په ډیر قدرت سره‌یی ویلی‌دی ، اودمعما په‌فن کښی‌یی هم مهارت درلود .

دالاندینی غزل دده‌دی :

غزل

خوشم آنشوخ هر که برسر بیداد می آید
که میدانم کـه بیدادش ازمن یاد می‌آید
عزیزم گردبخت ازمنصب عشق تو واکـنون
اجل سوی مر از بهر مبارکـباد می آیـد
زبس آمد بجان از نالهٔ زارم سگ کویش
چو می‌بیند مـرا ازدور در فریاد می آیـد
درین فیروزه گـلشن باوجود قدورخسارش
کرا یاد از تماشای گـل وشمشاد می آید
حریم سینه چون وادی خوناب غمت ایـدل
میفگن طرح عیش آنجاکه بی بنیاد می آید
ببزم‌عیش خسرو را نوای چنگ وشیرین را
بگوش جان صدای تیشهٔ فـرهـاد می آیـد
(حقیری)میرود هردم بکو یت شادمان لیکن
چو با اغیار می بیند ترا نا شاد می آیـد

مولاناصفائی : امیر علی شیرلیـکی چه (نوی پیداشوی‌دی ماتراوسه لادی‌نه‌دی‌لیدلی خوشعر می‌یی اړویدلی‌دی) دالاندی مطلع دده ده :

بسـکه در سر هو س روی تو دارد دیـده
پشت سوی من ورو سوی تو دارد دیـده

خوحسن خواجه، صفائی دکرمان بولی، وایی چه پـلاریی په(هری) کی دچینی‌جوړولو صنعت ظاهر کړی دی ، اونوموړی لەفقیرسره آشناؤ، اوشعر بەیی په تامـل اوفـکر سره وایـه اودالاندینی غزلیی پەډپردقت اوښەویلې‌دی .

لیـکی نه گره برسر آن زلف، سیه داشت
بود آن دل مجنون که بزنجیر نـگه داشت
آن شب کـه گره از شکن زلف کـشودی
تا روز صبا غالـیه در دامـن مـه داشت
چشـم سیهش خون دل از دیـدهٔ مـا ریخت
گویا کـه بخون دل ما چشـم سیه داشت

سینه چه شـگافتـی بـی آزار دل من
پیکان توچون دردل ویران شده ره داشت
چون کـشتـهٔ تیـغ ستمت بـی گـنهـا نند
ازخون (صفائی) که گـذشتی چه گـنه داشت

دریاض‌الشعرا خاوند اوداغستانی آلة ددوو صفائیا نو نوم یادکړی‌دی، چه‌یوبی خراسانی بللی‌دی، وایی: چه دمولاناجامی خدمت‌ته‌رسیدلی‌ؤ اودامطلع‌دهغه بولی :

سوختم‌چندان که‌برتن نیست دیـر جای داغ
بعد ازین خواهم نهادن داغ بر بالای داغ

بل‌هغه‌دی چه‌وړاندی‌یادشو، لنډه‌داچه صفائی یونفراوبادوه نفره‌دی خودواړه دخراسان اود امیرعلی‌شیر اودجامی‌دزمانی‌دی

وداعی: دده له‌احوالو او اثارووخته پرته لـه دې چه امیر علی‌شیروایی، نورڅه‌لاس ته‌نه‌دی راغلی ، اوکه‌څه هم نوموړی امیؤ، خوطبعه‌یی له‌لطافت‌څخه‌نه‌وه‌خالی. اوددې‌په‌باره کې‌نورڅه لاس‌ته‌راغلی، اودالاندی مطلع(نوائی) ودەته نسبت کوی :

دلانتوان حریف اهل تقوی جاودان بودن
بردردی کشان‌هم چند روزی میتوان بودن

قل‌محمدجانی: نوموړی اصلا شبرغانی‌دی او دامیر علی‌شیر لەخواتربیه شوی‌دی، اودی‌به‌موسیقی ،نجوم ، خطاطی‌اولواحی کښی ترشاعری‌ زیات شهرت‌لری ، اودالاندی بیت دده دی :

خو شا مطـرب کـه ساز خود نـوازد
یـکی را از نوا خو شحال سـا زد

(جانی)دسلطان حسین دزمانی لەشاعرانوڅخه‌دی، دده‌وطن جوزجان ؤ ، اود علم او فضیلت دزده کولو دپاره هرات ته راغلیؤ، اودامیر علی شیر دربارته یې‌لار پیدا کړه . نوموړی (جانی) پرومبی‌په‌ریحانی متخلص‌ؤ ، خوامیرعلی‌شیر له دې کـبله چه‌دی دجوزجانؤ ، دده‌تخلص په(جانی) بدل کړ . اودالانـدی مطلع دده ده :

تاجلوه کرد خط لب یار سبز وسرخ
آتش علم زد ازدل افـگار سبز سرخ

دیوانه‌بلخی: نوموړی په خطاطی مشهور ؤ ، ده دسلطان حسین په‌زمانه کی ژوندډرلود، اوخورابنه‌شعریی وایواودالاندی بیت دده دی:

میخواستم نظاره کـنم‌نقش اودرآب
ناگه نسیم آمد و نقشی بر آ ب زد

صافی: نوموړی په شعر کښی د حافظ له‌پیروانو څخه دی اودسلطان حسین په زمانه کښې‌ژوندکاوه او دده دا مطلع علی‌شیرثبت کړې ده :

ساقیا سر خوشم و بادهٔ صافم داری
گر کنم سرخوشی آن به که معافم داری

یاری بلخی : د(مآثر بلخ) دلیکنی له مخی هر کندیزی چه نوموړی د بلخ له دزیر زادګانو څخه ؤ ، او د حسین بایقرا په زمانه کښی یی زوند کاوو، او یوقدر مشربه سړی ؤ ، او په هم هغه ځای کی وفات شوی دی دالاندینیر مطلع دده ده :

کسی نشان سرموی مرا از آن ند هد
چنان بتنگم ازین غم که کس نشان ندهد

یاری هروی : دهرات ؤ، اودتیموری کورنیر له شاعرانو څخه دی، دمذکر احباب خاوند حسن خواجه لیکی چه نوموړی دهرات له پخوانو شاعرانو څخه دی. او دیوان هم لری . او دالاندی مطلع دده دحال شاهد دی :

چون زمعنا نیست خالی عاشق صورت پرست
پی بمعنا میبرد عاشق بهر صورت که هست

انوری : دی په اصل کی دبلخ دی، او د څوانیر په وخت کی دسلطان حسین په عصر کښی هرات ته تللی ؤ، او په هغه ځای کښی یی دخیل علمی قوت له کبله سره له دې چه به عمر هم کوچنی ؤ؛ دانځولیو په منځ کښی په مولانا مشهور شو، د(مآثر بلخ ) خاوند خسته آغا لیکی چه انوری سره له دې چه خورا لوړ مقام اوستر علمی حیثیت یی درلود، په یوډول فاروغې اخته ؤ ، دفقراو مفلسیر له امله یی دخپل رنځ علاج نشو کولای، اوخپله ګذاره ئی په ډېره سختیر کوله . دامطلع دده له وینا وو څخه ده :

ای زتاب می ترا هر گونه برر خسار گل
سبزهٔ باغ جمالت اندك وبسیار گل

امین : له هغو شاعرانو څخه دی چه له بلخ څخه هرات تللی دی، اوله علی شیر سره یی ملاقات کړی او دهغه له خوایی عزت او احترام شوی دی . نوموړی په شعر کښی دخپل عصر له استاذانو څخه شمیرل کېدی، اوده دبدیع په لفظی اومعنوی صنعت کښې زیاته توجه درلوده. دخپل عمر په اخیرو وختو کی ایران ته ولاړ او په استر آباد کی مړ شوی دی . دالاندی بیت دده دی :

ای سیه چشم خطائی مرغ جانرا باتوانس
وز سیه چشمان دیگر همچو آهو دلبرم

مولانا محمد : په بلخ کی د بدیع الزمان ددورې له شاعرانو څخه یومولانا محمددی، نوموړی د هغه وخت له فاضلانو اولوړو اشخاصو څخه یوتن ؤ، او ډېره موده یی په بلخ کښی دصدارت رتبه لرله . هغه وخت چه دبابر او عبدالله خان په منځ کښی جګړه شروع شوه، مولانا په دغه جګړه کښی په ۹۱۷ کښی په شهادت ورسید . اودی د معما په فن کی یوه رساله لری . اودالاندینی بیت دیحیی په نوم ده ویلی دی :

چو روی خوب تودیدم برون شد ازدل من
محبت همه اشیا بغیر و جه حسن

باقی : دده نوم بافردی اوتخلص یی (باقی) ؤ، اودسلطان حسین دعصر له شاعرانو څخه ؤ، یوواری هند ته هم تللی دی، اودهغه ځای له شاعرانو اوفاضلانو سره یی هم کتنه لیدنه کړې ده، او په شعر کښی دښه قدرت خاوند ؤ ، اوښه اشعاوبه یی ویل، اودالاندینی دری بیتونه دده له هغی غزلی څخه دی چه دخسرو د غزلی په اقتفایی ویلی ده :

باغیار است یار آنشوخ بامن یاربایستی
جفا هائیکه بامن کرد بااغیار بایستی
نهال قامتش عمر عزیز مابود اما
کس ازعمرعزیزخویش برخوردار بایستی
چواوراتکیه بردیوار دیدم مردم ازحسرت
که این فرسوده قالب خشت این دیوار بایستی

باطنی : نوموړی هم دبلخ ؤ ، اوامیر علی شیر خدمت ته هم رسیدلی دی، اودهغه له خوا یی احترام شوی دی، په ډېر د درویشی په حال کښی ؤ، او په دنیوی علاقو پابند نه ؤ ، اودحرمینو زیارت یی هم کړی ؤ، نوائی دالاندی مطلع دده په نامه ثبت کړې ده :

بسکه دارد تنگدل این غنچهٔ خندان مرا
جان زدل آمد بتنگ ودل گرفت از جان مرا

جاروبی : دسلطان حسین دزمانی له شاعرانو څخه ؤ، اوښه شعریی وایو؛ دی اصلا دبلخ ؤ ، اوهرات ته هم تللی ؤ، او دالاندینی بیتونه دده دی :

صد ره سرم بکوی تو گر خاك درشود
کی شوق پای بوس تو از سر بدر شود
ای شمع امشب از سر بالین من مرو
یکشت چه شد بروی توام گر سحرشود

اودا بیت هم دده دی :

جار وبیم وبسته کمر از پی خدمت
درشام وسحر خاك درت رفتم ورفتم

صالح : نوم یی میرمحمددی، اوهراتی دی ، دریاض الشعراء دویلو له مخی هر گندیزی چه دی دسلطان حسین بایقراله نامتو امیرانو څخه ؤ ، او په هرات کښی زیږېدلی ، اوهلته مړ اوخښ شوی دی ، اوپه هغه ځای کښی یی ښه عزت او احترام درلود ، اوپه شعراو ادب کښی یی ښه مهارت درلود ، اوامیر علی شیر دده تعریف اوستاینه کړې ده ، اودالاندی څو بیتونه دده له اشعارو څخه دی :

ای شده چاك زهت چشم بلا پرورمن
چه شود گر قدمی رنجه کنی بر سرمن
رشکم آید بخوا ورنه ترا میگفتم
که نمائی رخ خودرا بملامت گرمن
چون بمیرم زغمت تا بابدخواهدماند
آتش عشق نهان درتا خاکسترمن

اوداهم دده دی :

نازم بچشم خود که جمال تو دیده است
رفتم بپای خود که بکویت رسیده است
هردم هزار بو سه زنم دست خویش را
کو دامنت گرفته بسویم کشیده است

سعید : د (آثار هرات) د خاوند په قول مولانا سعید په دې یانهمه پیړۍ کښې دهرات له شاعرانو څخه ؤ ، او دی شوخ اوتو کی سړی ؤ ، اودالاندی مطلع پی دخیل تور پوستکی په نسبت ویلې ده :

غلام خویشتنم خواندلاله رخساری
سیاه روئی من گرد عاقبت کاری

قبولی هروی : حسن خواجه وایی چه نوموړی له جغتائی امیر زاده گانو څخه ؤ ، او ددینی علومو تحصیل پی کړی ؤ ، اولیکی چه هغه وخت چه مولانا قبولی «هروی» وفات اوله دنیا تپر شونو جناب امیر علیشیر سره دهرات له اعیانو دده کورته راغی ، اودجناب ملا دیوان بی دحسب حال په غرض واز کړ ، دا لاندی مقطع را ووویت :

اگر مقبول تو باشم قبولیم ور نه
بهردو کون چومن ناقبول نتوان یافت

او (قبولی) دده دوصیت اوپوښ بینی له مخی دهرات دساداتو په هدیره کی خښ کړشو. اوده دالاندینی مقطع هم له لطافت څخه نه دی خالی :

عجب نبود اگر امروز نشناسی «قبولی» را
که روی زرد او ازاشك گلگون رنگ دیگر شد

قبولی قندوزی : نوموړی هم دتیموری امراؤ له معاصرو شاعرانو څخه ؤ ، ده په هرات کی دعلومو تحصیل کړی دی ، اوپه هغه ځای کښې پی خیل زوند پای ته رسولی دی ، اوخورا ښه شاعر ؤ ، دالاندی غزل دده دی :

غزل

خانه ای عاقل چه کار آید من دیوانه را
چون نمیدانم من دیوانه راه خانه را
نیست چون بختم که ره یابم بقصر زرنگار
مغتنم باید شمردن گوشهٔ میخانه را
خواه جانان درغم من خواه مستغنی که من
شادی جان حزین دانم غم جانانه را
شمع اگر در خلوت خاصست اگر در بزم عیش
چارهٔ نبود بغیر از سوختن پروانه را
جای آن دارد «قبولی» کز جهان بیخود روم
گرفتند برمن نگاه آن نرگس مستانه را

مولا صدقی ؛ نوموړی له هغو شاعرانو څخه دی چه په وینا اوخبرو کی ماهروو ، اوښه اوبالطافته اشعار به یې ویل . دی د هراتؤ ، اوپه هغه ځای کی لوی شوی اوتربیه شوی دی . اود سلطان حسین میرزا په زمانه کښې ژوند کاوو .

اودا لاندی مطلع دده ده :

عرق نشسته زپندم رخ نیکوی ترا
زمن مرنج که میخواهم آبروی ترا

طاهری هروی : د (آثارهرات) خاوند ، نوموړی دنوائی هراتی په تصدیق معرفی کړی دی ، چه پېره پریشانه اود سختی زوندئی تیر کړی دی ، اود (تذکرهٔ حسینی) خاوند هم دطاهری هراتی والی تائید کړی دی ،اولیکی : چه ملاطاهری هروی په اول کی دموچنو گنډلو کسب کاوه ، په پای کښې یی د کتابت کارکاوه . لنډه داچه دی له هغو شاعرانو څخه ؤ ، چه په عالم ادب کچې بی خیل آثار یادگار بری اښی دی . او نوموړی له امیرعلیشیر اوسلطان حسین میرزا سره معاصرؤ .

اوفخری امیری دده غزلیات بخپله تحفة الحبیب کی درج کړی دی، چه اوس موږ دهغه یوه غزل دنښې (نمونه) په ډول انتخاب او لاندی پی لیکو :

غزل

بدرد من دل آن سرو سیمین تن نمی سوزد
بغیر از شمع کس را دل بدردمن نمی سوزد
نمی دوزد کسی چاك دل بر آتش زارم
که از سوز دلم هم رشته هم سوزن نمی سوزد
ز بس بر آستان آه دلم ره کرد حیرانم
که چون از برق آهم ماه راخرمن نمی سوزد
چنان از دوده آهم تیره شد گردون که روز و شب
چراغ مهر و مه بر آسمان روشن نمی سوزد
چنین کز شوق گل بلبل کند افغان عجب دارم
که از سوز درونش چون گل و گلشن نمی سوزد
اگر بلبل زآه و ناله آتش در گلستان زد
چه حاصل زآنکه گل را زین شرر دامن نمیسوزد
نمی نالد زداغ فرقت او (طاهری) یکشب
که خلقی را جگرزان ناله وشیون نمی سوزد

مولانا کاهی : دده‌دزوکړی اوخپهدو ځای معلوم نه‌دی ، او دده دژوندانه په‌باب کی‌هم معلومات نه‌لرو. د (تذکرهٔ حسینی) خاوند دی دملا محمد بدخشی له شاګردانو څخه یللی دی ، او دسلطان‌حسین میرزا معاصریی‌بولی . اودالاندی‌مطلع دده‌بولی

کسی اګر سرو دستار سرو من چیند
چرا ز باغ د ګر دستهٔ سمن چیند

حافظ میر سیستانی : نو موړی د جامی د ز مانی له خورا پیاوړیو شاعرانو څخه‌ؤ، ښه‌شعریی وایو، دتذکرهٔ‌حسینی‌خاوند دده‌داسی بیان کوی :قاری‌قرآن نیکوبیان (حافظ‌میرسیستانی ) دمولوی جامی له‌معاصرانو څخه ؤ ، اودالاندی رباعی دده‌ده :

رباعی

افسوس که حسنت ای جفاجوی نماند
وان جعد سیاه و عنبرین موی نماند
در کوی تو خانه داشتم رو زی چند
آن‌خانه خراب گشت وآن کوی نماند

نرګسی: د(آثارهرات) خاوند، دامیرعلی شیر نوائی دویلو له‌مخی‌نرګسی دهرات بولی ، اودتحفهٔ سامی سام میر زا خاوند دنوائی پرقول اعتراض کړی دی ، وایی چه ( نوموړی دعراق دابهر له‌شیخ زاده‌ګانو څخه‌دی ،چه‌په‌هرات کی ډیره موده ؤ، اوداچه په‌مجالس النفائس کښی‌یی راوړی دی چه دی‌دمرو دی سهویی کړې ده .) اود(شمع‌انجمن) خاوندهم‌دی‌ابهری‌بولی .

او د (آثار هرات) خاوند وایی: چه‌دنرګسی دپیژندګلوی په‌باب کښی دنوائی له‌قول څخه بل‌سندنشته ، نرګسی خپل ډیر ژوند په‌هرات کښی تیرکړی‌دی اوځه موده‌یی د احتساب وظیفه درلوده ، اوپووار قندهارته ولاړ، اوپه۹۳۸ هکال په هغه دیار کښی‌مړشو ،اوچاویلی‌دی چه‌په‌لار کښی دغلو له‌خوا ووژل شو، ده‌شپیته‌کاله عمر درلود اوښه‌اشعار په‌بی ویل ، اودالاندی غزل دده له اشعارو څخه‌دی :

وقت آن‌بی سروپا خوش که‌درین میخانه
دست از هر دو جهان شست بیك پیمانه
رو بصحرای عدم میکنم از شهر وجود
که گر فتست مرا خاطر از ین ویرانه
در ز یان همه افتادِ حد یث من و تو
گوش کن‌گوش که شد قصهٔ‌ما افسانه
می‌برد گرد شبستان بتان چون کردم
شمع جائیکه نباشد چه‌کند پروانه
میدهد گر به مرا روی که بخت بدمن
آشنا روی مرا کرد ز من بیگانه

(نرګسی) روی بره کرد زویرانهٔ‌خویش
کس چه داند که کجا میرود این دیوانه

مولانا نرګسی دنظامی دمخزن الاسرار په ځواب کی یوه مثنوی‌هم‌لری ،دالاندی دوه‌بیتونه له هغې څخه رانقل‌شوی‌دی :

آ مده شیطان بهم آواز یت
خیز که‌شیطان ندهد باز یت
شب‌همه‌شب‌راست کنی‌جای خویش
هیچ نداری غم فردای خو یش

(آهی) وایی چه‌دنرګسی بل‌تخلص (ریحانة‌الادب) ؤ ، او اوعمریی اتیا کاله لیکلی دی .

عالم : له هغو شاعرانو څخه دی چه له حضرت نور الدین عبدالرحمن جامی سره معاصرو . یعنی په نهمه هجری پیړۍ کښی‌یی ژوندکاوه ، دی اصلا دبیهق ؤ ، اودهغه ځای دیوهانو او دخوش طبعانو له‌ډلی څخه‌ؤ، اوخورا ښه شاعرؤ، اوښه‌اشعار به‌یی‌ویل . دتذکره حسینی خاوند وایی چه‌حضرت مولانا جامی به دده دامطلع ډیره خوښوله :

نیست گلګل عارضش کز تاب می افروختست
هرطرف خلقی بر ویش چشمها را دو ختست

اودالاندی‌غزل دده‌د کلام دنمونی په‌ډول دلته راوړل شو :

کیست آن سرو قدلاله رخ رو حانی
ترك مه پیکر خور شید وش ترخانی
آنکه هر گز نکند گوش‌سوی نالهٔ‌من
تا ل فی الحسن الی مرتبة السلطانی
هر که بیند برو بالای تو حیران گردد
سرو بالای تو بر داد مگرحیرانی
شایدای‌سرو که‌ازپاکی ولطف توکند
جیب گل خلقت ز یبا تر ا دا مانی
هر که سرگشتهٔ آن دا ئرهٔ خط نبود
هست بیرون مگر از دائرهٔ انسا نی
بسکه‌ترکان دو چشم سیهت باخبرند
نتوان دید بسوی تو مگر پنها نی
نشنوی ای گل ر عنا سخنِ (عالم) را
باتوای گل چکنم چون گل نافرمانی

مولانا ذهنی کابلی : نوموړی مولانا په اصل کی دکابل دی اوله امیر علی‌شیر سره معاصرؤ، اودهغه‌خدمت ته‌رسیدلی‌ؤ، دسکینة الفضلا خاوند لیکی چه ذهنی دامیر علی‌شیر نوائی له شاګردانو څخه ؤ او دهغه مصاحب ؤ . نوائی پخپله تذکره کی وایی چه‌لږه طالب العلمی‌هم‌لری ، او په خط کی‌هم ښه‌دی، چه څه‌شی ولیکی،اوکله‌کله دشعر ویلومینه‌هم‌درلوداودامطلع‌دده‌ده:

منگه همچون زلف مشکینت پریشان مانده‌ام
گردنی کج کرده بروی تو حیران مانده‌ام

شکسته کابلی : یو صوفی شاعرؤ ، اود نقشبند یی طریقی مریدؤ، نوم‌یی محمدصالحؤ اوپه کابل کښی ژ ېژېدلی ؤ، اوښه اشعار به یی ویل . دتذکرهٔ حسینی خاوند لیکی چه امیر محمد صالح کابلی دښه او غوره کلام خاوند دی . او د بهار افغانی خاوند لیکی :

چه‌دعاشقانوپه مجلس کی عجب شوراچوی او د صفاهانی رانجه دخبرو په ستر گو کی اچوی ، او درنگینو خیالانو گډی داسی تړی :

هوای صبحگاهی ساغر سر شار می خواهد
سواد سرمهٔ شب دیدهٔ بیدار می خواهد
بامیدیکه در کویت بسان سایه ره یابم
تنم بسیار میکاهد دلم بسیار می خواهد
(شکستی) شیشهٔ‌دل رانمی‌دانم چسان سازم
ترا آئینه می باید د لم دلدار می خواهد

اودالاندی غزل‌هم‌دده ده :

کاریکه باختیار کردیم ترك همه کارو بار کردیم
باسنگدلان چو کار افتاد از شیشهٔ می حصار کردیم
دروحدت دوست کثرتی‌هست بسیار بخود شمار کردیم
سر رشته عمر بود کوتاه پیوند بزلف یار کردیم
بسیار قلم (شکسته) سرشد تانامه سیاه کار کردیم

میرعزتی کابلی : نوم یی میرمحمد علی ؤ، اوتخلص یی (عزتی) ؤ، اوپه کابل کی ژ ېژېدلی دی، ښه لیك‌یی لارو، اوپه موسقی کی‌یی هم کافی معلومات او مهارت درلوداوښه طبع‌ئی لرله،اوپه‌شعر کښی‌یی ښه‌ذوق درلود ، اوله‌دې لاری‌یی دسلطان حسین دربارته لاربیدا کړه ، اوترکی ژبه یی ښه زده وه، اوپه هغی گی‌یی هم شعروپلای شو. دالاندینی بیتونه دده دی :

(مطلع)

لعل‌جان بخش تو جانان قصد جانم می کند
چشم بیمار تو هردم نا توانم می کند

(رباعی)

چشمم زغمت خون جگر میریزد
پیوسته سر شك چون شرر میریزد
هرساغر می که خورده ام بیتو شبی
دل بی رخت از دیده تر میریزد

صبحی اوپهی : دی په اصل کی دهرات د (اوبی) دی، واله داغستانی وایی چه‌دی یو فاضل شخص ؤ، اوله هاتفی او هلالی سره یی مصاحبت درلود، اوښه اشعارلری ، اودالاندی غزل‌دده له اشعارو څخه دی :

ماه‌من امشب بنور خویش این کاشانه را
ساز روشن ورنه آتش میزنم این خانه‌را
من دهم معمورهٔ عشرت که ازسودای او
گوشهٔ ویرانه ای باید من دیوانه را
زآنچه پیش آیدمرا از آشنائی های‌تو
رحم می آید بحالم مردم بیگانه را
کی روم بهر تماشا کردن نرگس بباغ
من که‌ازجان بنده‌ام‌آن نرگس مستانه را
شمع برروبت چنین گرآتش‌می بر فروخت
همچو(صبحی)میتوانی‌سوخت‌صد پروانه‌را

شیخ صدرالدین رداهی : دآثارهرات خاوند وایی ، چه‌دی دشیخ زین‌الدین خافی، له‌خلیفه‌گانو څخه‌یوتن ؤ، اوپه‌ریاضت اوطریقت کښی په خواصو اوعوامو کی مشهور ؤ. اوله نوائی سره معاصرؤ، اودهرات دښار ؤ. اوقبرئی‌دشغانیانو په‌کلی کښی دی، اودالاندی‌بیت ددو دی :

زهی ازعارضت‌چشم مرانور همیشه ازجمالت‌چشم بددور

هلالی هروی: هلالی دپوخ کلامو شاعرانو له‌جملی څخه ؤ، دده اشعار په‌ټهره بیادده دغزلیاتو دیوان دخواصو اوعوامو په منځ کښی منلی دی، اودده نوم‌لحینی‌بدرالدین وایی‌اولحینی یی نورالدین بولی، دی په‌اصل کی دهرات له‌جغتیانو څخه ؤ، اوپه همدغه ښار کی‌اوسیدو، هلالی‌په‌غزلو، مثنوی او قصیده ویلو کی ښه مهارت درلود . اوده دری مثنوی گانی دعاشقانی اوشاه، درویش،لیلی اومجنون په‌نومانواوصفاتو لیکلی اوتمامی کړیی دی . اویو دیوان یی هم شته، اوځوواره دهند په مطبعو کی چاپ شوی‌دی. اوده له امیرعلی شیرسره زیات مصاحبت درلود. هلالی دیرش ځلو پښت زره بیتو نه حفظ کړی وو، بابر پخپل تزك کښی دغزلو و یلو په‌طرز کی دده ستاینه کوی ، اوپه مثنوی ویلو کی په ټهره د شاه اودرویش په‌مثنوی کی یی دده غندنه کړې ده او سخت انتقادیی وربانډی کړی دی . دتذکرهٔ حسینی خاوند وایی چه هلالی له جامی سره ملګری دبیت‌الله شریف زیارت کړی‌دی . هغه وخت چه عبیدالله‌خان اورنګ دهرات ښارلوټ کړ، پرهلالی یی دوژلو حکم‌وکاوه، اودسیف‌الله نامی له‌خواروژل شو، اودده دوژلو تاریخ (هم سیف‌الله کشت) دی چه ۹۳۶ کېږی . دهلالی قبردهرات په‌چهار سوق کی‌دی .

اودالاندی غزل دده له‌دیوان څخه اقتباس شوی‌دی :

( غزل )

گردلم اینگو نه آه دمبدم خواهد کشید
آتش پنهان من آخر علم خواهد کشید

زیر کوه غم تن فرسوده کاهی بیش نیست
برگ کاهی چند یارب کوه غم خواهد کشید
نم گرفت ازاشك من دیوار هرسرمنزلی
اشك اگر اینست بام چرخ نم خواهد کشید
حرف بیدادی که بیرون آید ازکلك قضا
دورچرخ آنرا بنام من رقم خواهد کشید
جرعه نوش بزم رندان را بشارت ده که او
سالها آب حیات ازجام جم خواهد کشید
چون (هلالی) خاك گشتم برامید مقدمش
وه چه دانستم که ازخاکم قدم خواهد کشید

حیدر کلوچ : پخیل عصر کی دمقتدرو شاعرانو نه د لی

څخه ډ، اوددیوان خاوند دی، ښی غزلی او ښی قصیدی به بی ویلی . دهرات په ښار کښی ئی دکلچو پخولو کارکاوه ، حسن خواجه لیکی چه نوموړی یوامی سړی ډ، اوخط او سوادبی هیڅ نه لاره، خودخبرو او وینا په صیقل به بی داهل مجلس دزړه له هینداری دخیکان او ملال زنگ لری کاوه. حیدر بدیهه گوی شاعر ډ، لکه چه یوه ورځ بی یو غزل امیرعلی شیرته ورووړ اود هغه له معنا کولو څخه عاجز شو ، نوبداهتایی وړوسته له عذرغوښتلو څخه دالاندی مطلع وویله :

چنان طوطی صفت حیران آن آئینهٔ رویم
که میگویم سخن اما نمیدانم چه میگویم

همدغسی هغه مهال د همایون کامران مجلس ته ورغی، له ده څخه ئې دده دمذهب پوښتنه وکړه، حیدر دستی دا لاندی بیت ووایو :

طریق مذهب ازرندان یامشرب چه می پرسی
زمشرب پرس رندان را توازمذهب چه می پرسی

اوبه همدغه سبب بی چندان التفات وده ته ونه کاوه .

د(حیدر) دیوان په بشپړه صورت سره چاندی لیدلی ، خو دده احوالو لیکونکی دده دغزلیاتو یوه کوچنۍ دیوانچه راجمع کړې ده. اود (حیدر) یوه ٤١ بیته قصیده چه د حضرت علی (رض) په مدح کښی اودبحرالابرار خاقانی لخواب کی ویلې ده لاس ته راغلې ده اودالاندی دهغې مطلع ده :

جهان تمام گرفتم که برزسیم و زراست
تمام تفرقه خاطر است ودرد سر است

اودالاندی یې زړه پورې غزل هم دده ده :

( غزل )

اسیری حلقهٔ زنجیر آن زلف دلاویزم
خراب و خسته آن چشم شوخ فتنه انگیزم
زخاك من چورویدگل وزآنجا بگذری خواهم
که من باشم بجای خارو درد امانت آویزم
چه حال است اینکه هرجا بینمت ازشوق آن دیدن
چنان افتم زپا کز ضعف نتوانم که برخیزم
جنون عشق را به زین مدا وائی نمیبا شد
که گیزم گوشهٔ ازخلق وبا مردم نیامیزم
چه کار آیدسحر گه بوی سنبل باصبا همره
نسیمی بس بود ازچین آن زلف دلاویزم
دلم تاآشنا شد باسگ کو یتو میخوا هم
که گردم زآشنا بیگانه و ازخویش بگریزم
ازآن بدخوجدا زانگونه گشتم ناتوان (حیدر)
که دیگر نه مداوا سود میدارد نه پرهیزم

مولانا فضلی هروی : فضلی دلوړی مر تبې خا وندانو

شاعرانو له ډلې څخه دی، اودسلطان حسین بایقرا په زمانه کی بی زوند کاوه، دی په هرات کی ز ېږیدلی دی ، اوبه هغه ځای کی لوی شوی اوهلته تربیه شوی دی . نوائی وایی : چه په کوچنیتوب بی نقاشي کوله، وروسته له هغه ئی په شعر ویلو پیل وکړ، اودده ښه اوغوره اشعار په جونگونو او بیاضو کی ثبت شوی دی، اودالاندی غزل هم دهغو غزلو له جملی څخه دی :

( غزل )

دل من خون شد وهر گل که روید از گل من
دره عشق گوا هیست بخون دل من
دیدهٔ گریان وسرم شد بره محنت خاك
بامیدی که شود سرو قدت مائل من
من نه آنم که سر از تیغ ملامت بکنم
گر کشد صدر هم ازتیغ ستم قاتل من
گفتمش لب بکشا برده بر خسار افگند
وه که بکشاد از آن غنچه دهن مشکل من
من که وکنج وصالت که درین دیرخراب
کنج محنت کدهٔ هجر بود منزل من
خرمی ازدل ( فضلی ) مطلب چو نبود
حاصلی غیر الم ازدل بیحاصل من

عبدالقهار هروی : نوموړی د نوائی له معاصرینو څخه ډ،

اودهرات په ښار کښی اوسیدو ، اوله شاعرانو اوفاضلانو سره به بی مجلس اوناسته ولاره درلوده . اوبه کیمیا گیری به بوخت ډ، وروسته بی بیا به شعرویلو پیل وکړ ، اوبه هرات کی وفات شو، اودامام فخررازی په هدیره کی خاورو ته وسپارل شو .

دالاندی مطلع دده ده :

اشکم آید زآنچه بردلها خدنگ یار کرد
تیر او برغیر خورد و بردل من کار کرد

برهان‌الدین عطاءالله: نوموړی‌دامیرعلی‌شیر معاصر ، همدم اوهمنشین ؤ، اودسلطان حسین بایقرا دعصر له لـوړو او بلند مرتبه فضلاؤ، څخه ؤ. دی دهرات په ښار کی زېږ پدلی دی ، اوزیاته موده پەدغه ښار کی په تدریس بوخت ؤ ، او دامیرعلی شیر لەخوا تربیه شوی اوحمایه کیدو؛ او ددغه خیل حـامی په ستاینه کی یی غوره قصیدی اوزیات مدایح ویلی‌دی، او د هغه حق یی اداکړی‌دی . او نوائی هم په خپله تذ کره کـی دده ستاینه کړې ده .

مولانا برهان‌الدین په اشعارو کی ډېری معمـا گـانی او تاریخی قطعات راوړی دی، او په‌دې رشته کی‌یی پوره مهارت حاصل کړی ؤ، لکه چه‌په معماگـانو کی‌یی د (جواهرالاسماء) په‌نامه ډېره رساله لیکلې‌ده . مولانا دنوائی دمهر و هلوتاریخ په لاندی ډول نظم کړی دی :

مهر فلـك جناب علی شیر کـنز شرف
عا جز بود ز حد کمـا لات او خـرد
دیوان نشست آخر شعبان بداد عـدل
از لطف شاه عدل والحق چنین سز د
چون مهرزد بدولت سلطـان روزگـار
تاریخ شدهمینکه (علی‌شیرمهرزد) ۸۷۶

اوبیائی دامیر علی‌شیر دامارت تاریخ چـه ۸۹۲ کال دی په‌لاندی ډول نظم کړی دی :

آن میـرعلـی شیر کـه دارد — او صـاف برون زحد تقریر
چون کردقبول بـاز امـا رت — تاریخ شود ( امارت امیر)
۸۹۲

مولانا کامی : نوموړی دعلی شیر لەمعاصرینوځخه ؤ، اوبو ماهرشا ؤ، نوائی‌وایی چه‌دی د هرات د(اوبی) دی، اووایی چه دپیاوړی طبع خاوند ؤ حسن‌خواجه د کامی‌داسی بیان کوی «چه دنساجی به‌کار بوخت ؤ ، اوداسی یی کوله چه‌دهغه دعمر رشته داجل استادنه شوای شکو لای بلکه دطبیعی تار په حیات پوری به پیوسته کیده، د پنجه په‌حوالی کی ؤ چه دقضـا پنجی دده‌داجل لاس له‌اوزوځخه جلاکړ اودفنا به ځاکی یی واچاوه» اوحسن خواجه دالاندی غزل د ده په نامه ثبت کړی‌دی :

زار نـالم زغمش نـاله ز بیداد کـنم
باکه گویم ستمش بیش که فریاد کنم
بیش لعل لب شرین توای راحت جان
شکرو قند چه بـاشد که‌ازآن یاد کنم
باوجود رخ‌وزلف وقدت ای‌غنچه دهن
چون تماشای گل‌و بلبل وشمشاد کنم
ای‌خوش آنروز که‌درصحن چمن خواب کـنی
چون نسیم آیم و بر روی تو گـل باد کـنم
گـر بشهر از ستمت آه نیـارم کـردن
سر بصحرا زده از دست تو فریاد کـنم
(کامی) ازنالهٔ من شهر بفریاد آیـد
گرزبی مهری آن ماه شبی یاد کـنم

د(آثارهرات) خاوند داکامی لەسبزواری‌کامی سره یوبولی‌سره له‌دې‌چه‌سبزواری لەهغوشاعرانوځخه دی چه‌ډېره‌موده په‌هند کښی دخان خانان په‌دربار کی‌ؤ اودهغه‌سپهسالار په ستاینه او مـدح کښی بی‌ډېری‌قصیدی ویلی دی .

اوسر بېره پردې د( ماثررحیمی) دخاوند دو بلو لـه مخی هر گـنـدبیزی چه کامی‌سبزواری ، چه‌دده‌له‌همنشینانو او مصاحبانو ځخه‌ؤ په۱۰۱٤هجری‌قمری کښی بیاله‌ده‌سره په‌هرات کی ملاقات کړی‌ؤ اوپه‌هغوځوورځو کی‌دخراسان خواته‌ولاړ او په‌لار کښی دغلوله‌خواووژل‌شو . نوهغه کامی چه‌امیرعلی‌شیر اوحسن خواجه یادکړی‌دی له‌سبزواری ځخه ډېره وړاندې زندگـانی در لوده لکه چه‌امیرعلی‌شیربه(۹۰٦ه) کی‌اوحسن‌خواچه دمجمع‌الفضلاء دخاوندبقای دویلوله مخی په(۱۰۰۵)ه کی وفات‌شوی دی نوځخه ډول‌لیدای شی چه‌حسن‌خواجه به‌سره له‌دې‌وایی‌چه‌کامی‌په‌پنځوس کـلنی کی‌مړشوی‌دی اوپخپله‌دی په(۱۰۰۵) کی مړشوی دی چه‌له‌هغه سره یی به۱۰۱٤ کښی لیدلی وی .

ملاحسین واعظ‌کاشفی: دده‌نوم‌حسین بن‌علی بیهقی هروی‌دی اولقب کمال‌الدین‌ؤ اوپه‌واعظ‌کاشفی ، مشهورؤ ،په اصلی کی‌دی دسبزوارؤ، اوپه هغه ځای کی دی په وعـظ او خطابت بوخت‌ؤ وروسته بیاهرات ته‌راغلی‌دی او دلته یی استوگـنه‌غوره کړې‌ده نوموړی دهرات دنهمی‌پیړۍ له‌فضلاؤ اوواعظانو اولیکونکو اوشعراؤځخه اودسترومفسرینو له‌جملی‌ځخه‌ؤ او دی ستر واعظ اوخورا پیاوړی‌خطیب‌ؤ .

په‌مجامعو اومجالسو کی به‌یی‌وعظ اوخطابه‌ویله ملا حسین په نقشبندیی طریقه کی مریدؤ واعظ‌کاشفی‌هم د خیل عصرونورو فضلاؤ په‌شان دامیرعلی‌شیر نوائی له‌حمایی اوانصاف ځخه برخه لرله ، اودسلطان‌حسین‌بایقراپه‌دربار کښی‌ئی قرب درلود واعظ کاشفی‌دفارسی په‌ادب‌اوفرهنگ کی ډېر قیمتداره آثار پری‌ایښی دی چه‌هریوپوهگران اوقیمتهااثر گـنل کېږی، اوډېر کتابونه‌یی په‌نجوم، تفسیر، حکمت، اخلاقو،حدیثو تصوف ، ریاضی ، فـقه اوتاریخ اونورو کی په‌فارسی اوعربی‌ژبه‌لیکلی دی په‌شعرویلو کی‌یی‌شه‌طبع لرله، دده‌د کلام قوت اودطبـع‌قدرت په هغو کی هر گـنداوښکاره‌دی د ملاحسین هغه‌آثارچه‌نن‌ورځ به لاس کی دی اوچاپی‌اوځینی خطی او قلمی دی، اووه دیرشوته‌رسېږی . دده دزوکړې نیټه‌نه‌ده معلومه په (۹۱۰ه) دهرات په ښار کی وفات شوی‌دی .

(دزیات تفصیل دپاره دې د «حسین کاشفی» عنوان و کتل شی)
اوده دا لاندی غزل دنمونی په ډول دلته راوړه شوه :

غزل

رهروان در کاروما از کارخود غافل هنوز
همرهان رفتند وماخوش خفته در منزل هنوز
چابکان کام وفا در ملك جان ودل زده
مازروی کاهلی دربند آب وگل هنوز
اهل دل ازقعر بحر آورده گوهرها بدست
خاکساران طبیعت مانده برساحل هنوز
قامتش درجلوهٔ ناز است وکوته همتان
همچنان برشیوهٔ سروچمن مائل هنوز
گشته مجنون همدم لیلی بخلوتگاه انس
مردم نظارگی را چشم بر محمل هنوز
گشته صرف قال قیل مدرسه عمر عزیز
درکتاب اصل حل ناگشته یك مشکل هنوز
(کاشفی) در حیرتم کزنشاء سعاقی عشق
عالمی بیخود شدند و محتسب غافل هنوز

فخرالدین علی: فخرالدین علی بن کمال الدین حسین بن علی په (صفی) متخلص ؤ ، دملاحسین واعظ کاشفی زوی دی دی هم دخیل پلار غوندی په ادب اوعرفان کی ماهر ؤ ، او په لیکنه (نویسندگی) کی هم ماهرؤ ، اودنقشبندیی طریقی پیرو ؤ فخرالدین هم خپل خیل آثار یادگار پری ایښی دی، چه دده نوم یې ژوندی ساتلی دی، اوپه نظم اونثر کی یې هم ښه مهارت درلود دفخرالدین علی منثور آثار یو (رشحات عین الحیات) دی، چه دنقشبندیی دمشائخو اوصوفیانواو نزرگانو د ژوندانه اواحوالو په شرح کښی یی لیکلی دی . بل یی (لطائف الطوائف صوفیه) دی چه په (۹۳۹) کی یی لیکلی دی ، چه پرقصو او نکلونو باندی مشتمل دی، بل یی دده د پلار (خلاصهٔ کتاب اسرار قاسمی) دی بل یی (حرزالامان فی فتن الزمان) دی، چه دقرآن عظیم الشان دحروفو په اسرارو اوخواصو کی یی لیکلی دی په نظم کی هم د (محمود اوایاز) په نامه یوه مثنوی لری .

او د (مجموعة الاشعار صوفیه) په نوم هم بواثرلری ، چه دنورو د آثارو منتخبات دی. داپورتنی آثار له ده څخه پاته دی . دالاندی غزل دده د ه :

غزل

الهی غنچهٔ ذکر خفی گردان د هانم را
مکن گویا بحرفی جزثنای خودزبانم را
نهال معرفت در جویبار خاطرم بنشان
معطر کن چونخل از بوی وحدت مغزجانم را
بروز نفس سرکش کی زفرمان توسر بیچم
ز قهاری مده یکبارگی از کف عنانم را
مکن دست ادب را کوته ازمن گاه نزدیکی
چونی هنگام دوریها رسائی ده زبانم را
چراغم را نگهدار ازهوا در ظلمت شبها
مکن در زیر بار صبح جسم ناتوانم را
درین غفلت سرا ازشهرت بسیار کم نامم
بلند آوازه گردان چون قیامت داستانم را
چوصبح صادقم ازظلمت هجران رهائی ده
بر سوائی بر آور آرزو های نهانم را
من ازغمگین اگرشادم زقید خویش آزادم
چو گل باروی خندان دار دائم دوستانم را
بمژگان سیه چشمان گره ازکارمن بکشا
بینداز تار زلف عنبر بن مویان میانم را
کمند جذبهٔ خورشید را برذره ها بستی
بمن هم مهربان کن اندکی نامهربانم را
بخلوت خانهٔ وصلم طلب کن چون (صفی) باری
که در بای خود افشانم چو گل نقدروانم را

نوموړی په ۹۳۹ هـ کال دهرات له ښار څخه دباندی وفات شو اودلته په ښار کښی خښ شو .

کوثری : دهرات دی، اود علی شیرنوائی معاصردی ،اوله صفی سره ئی زیات اختلات او ناسته ولاړه در لوده . دالاندی مطلع دده ده :

محتسب کز رند باشد دیر را در واکند
بهر رندان باده از زیر زمین پیدا کند

محوی : دنوائی دویلو له مخی هرگنده چه دی دهرات ؤ او په سختی او تنگ ژوند یی درلود . محوی په شعر ویلو کی ښه قدرت درلود او غوره غزلونه به یی ویل ، فخری امیری پخپله تحفة الحبیب کی دده په نامه غزل درج کړی دی. اودالاندینوء غزل دهغو غزلو له جملی څخه دی چه ده حافظ دغزلی به تتبع ویلې دی:

تا ازفروغ باده چه صبحست شام ما
خورشید رشك میبرد ازعکس جام ما
ما همدمیم بامی و معشوق هم نشین
ای شیخ نیست گوشهٔ عزلت مقام ما
ازچشمهٔ خضرچه کشاید کجاست می
کان آب زندگی است حیات مدام ما
ازخرمی چوسبزه برآریم سر زخاك
روزیکه بگذرد بزبان تو نام ما
(محوی) گرفتم اینکه تودرنظم خسروی
خاموش بیش حافظ شیرین کلام ما

والهی هروی : واله د اغستانی د ریاض الشعرا ، خاوند نوموړی دسلطان حسین میرزا د دوری له‌شاعرانو څخه ګڼی، امیرعلی‌شیر نوائی‌هم دی‌هراتی بولی ، او نوموړی دتیموریانو ددوری له شاعرانو څخه ؤ . ریاض الشعرا دالاندی مطلع دده په نامه ثبت کړې ده :

بی‌قیمت است پیش لب لعل یارلعل
بادا فدای لعل لبش صد هزار لعل

امیرعلی‌شیر دالاندی بیت‌هم دده‌په نوم ثبت کری دی :

آن چشمهٔ حیات یابند جان ازو
جزآب حسرتم نبود در دهان‌ازو

آصفی هروی : نوموړی له‌هغو شاعرانو څخه یوتن دی‌چه په‌غزلو ویلو کی یی بشپړه قدرت او یودیوان یی‌هم ترتیب او لیکلی‌دی ، آصفی له‌امیرعلی‌شیر سره ناسته ولاړه لرل اودهغه هم‌مجلس‌ؤ، او زیات فضل او کمال یی‌لاره، دی په هرات کی زیږ‌ېدلی او هلته وفات شوی دی ، او ده د نطا می ګنجوی دفخرالاسرار په‌سبك یوه مثنوی نظم کړې‌ده، دده داشعارو یو قلمی‌دیوان اوس‌هم‌شته ،دی‌ښه اشعار لری . آصفی په ۹۲۰هـ ق کال پخپل‌ځای کی مړشوی‌دی ، او په‌هغه‌ځای کی‌خښ‌شوی‌دی ، .

دالاندی غزل دده‌د کلام نمونه‌ده :

موج ریګ وادی غم زیب فرما بس است
پردهٔ‌روی مزار کوهکن خارا بس‌است
بشتهای ریګ‌را مژ ګان مجنون خاوشد
اشتران موج راخارو خس‌دریا بس‌است
حال سیل دیدهٔ فرهادو مجنون را مپرس
چاکها در جیب کوه ودامن‌صحرا بس‌است
گرسیه روزی بگیرد تر بتم را در کنار
سایهٔ لوح مزار افتاده بر بالا بس‌است
عشق‌وخوبی‌رنګ‌رنګ آمدترااى‌باغبان
حسب حال ماو رعنایان گل رعنا بس‌است
گر زشاخ گلبن‌راحت درین‌باغ (آصفی)
گل بدستم نیست درپاخار استغنا بس‌است

مولا نا غریب : نوموړی شاعر اصلا د سبز وار دی ، او دریاض‌الشعرا د خاوند دویلو له مخی نو موړی دسلطان حسین میرزا دسلطنت په اخیرو وخت ژوند درلود ،اودی یودښی‌سلیقی خاوند اوخوش طبع شاعر ؤ . د لاندی‌بیتونه ریاض‌الشعرا دده په‌نامه درج کړی دی :

(غریب) مردم و از من نکرد یاد کسی
به بیکسی و غریبی چو من مباد کسی
خوشم بغربت از اندوه بیکسی مردن
که نه غمین بشد از مرد نم نه شاد کسی
چو با د بوی تو آورد جان بر افشا نم
چو من نداد بیوی تو جان بیاد کسی

حافظ ندائی : دواله‌داغستانی دویلو څخه څرګندېږی‌چه‌دی دسلطان حسین میرزا ددوری له شاعرانو څخه اویو پرهیزګار سړی‌ؤ، او په نقشبندیه طریقه مړ یدؤ ، اودبرش کاله‌یی ګوښه ګیری او انزوا غوره کړې‌وه . دده‌نوم سلطان‌محمدؤ، اوله اسفزار څخه هرات‌ته راغلی‌ؤ ، اودلته‌ئې استوګنه اوتوطن‌غوره کړ . په‌غزلو او مثنوی ویلو کی‌یی ښه مهارت درلوده او یوه مثنوی‌یی د «نازو نیاز» بشپړه کړې ده .

اودالاندی غزل په‌تحفة ایحبیب کی‌دده په‌نامه درج‌ده :

غزل

ساعتی از گر یه‌چشم ترنیاسایدمرا
بسکه می گریم زمردم شرم می‌آیدمرا
میروم هرلحظه بهر دیدنش اما چه سود
نیست چون تاب‌نظرهرگه که‌پیش‌آیدمرا
چشم خونبارم گراز نادیدنش بی نورشد
روشنی در دیده بی رو یش نمی بایدمرا
دی ز کویش میگذشتم دیده شد روی رقیب
آن بلا دیگر الهی روی ننما ید مرا
چون (ندائی) فارغم ازشیوهٔ ار باب عقل
تا بع عشق و جنونم تاچه فر ماید مرا

دعبدالمؤمن خان غازی شیبانی په زمانه کی یو بل ستر مقتدر شاعرهم دخراسان په‌سیمه کی پیداشو، چه تخلص یی (ندائی)ؤ اونوم‌یی صالح‌محمدؤ اودسمرقند د ښارؤ اویومکمل او غوره دیوان‌یی زموږ دمطبوعاتو د کتب‌خانی په قلمی کتابو کی‌شته چه‌یریوه مقدمه ، قصایدو، غزلو، تر جیع بند او نورو اشعارو باندی مشتمل‌دی، او په۳٦۹مخو کی او په‌ډېرښه لیك‌لیکلی‌شوی دی، اولاجورد مطلاجدولونه لری، او یوه‌لوحه خو را ښایسته میناتورلری اومذهب‌دی .

نادری‌هروی: نادری دتیموریانو داخیری‌دوری له شاعرانو څخه‌دی، دی‌دهرات د ښارؤ دلوی‌طبع خاوند اوشعری قریحه‌یی درلوده ،نوموړی نادری خورابنی غزلی ویلی اوده ر نګینی غزلی په‌جونګونو اوبیاضو کی ثبت‌شوی‌دی، فخری امیری چه دده‌له معاصرینوشخه‌ؤ دده یوه اندازه‌اشعار یی پخپله تحفة‌الجیب کی‌ثبت کړی‌دی دالاندی‌غوره غزل دده ده :

غزل

گل زد آتش آشیان بلبل غمناك را
تا بسوزد خرمن مشت خس وخاشاك را
نیست بردامان گردون‌سرخی از رنګ‌شفق
خون‌اهل دل گرفته دامن افلاك را •

سوختم ای باغیان از آفتاب جام می
برسر ما سایه گستر کن درخت تاك را
ساقی ازمی ظرف‌جام باده‌چون صیقل نمود
خیز وروشن کن دمی آئینهٔ ادراك را
عشق میبازد بروبت چشم پاك (نادری)
درطریق عاشقی عشقست چشم پاك را

قاضی نظام‌الدین : دهرات دښارله‌قاضیانوڅخه‌ؤ او یوفاضل اوعالم‌اوشاعرؤ، دریاض‌الشعرا خاوندی‌دجامی له‌معاصرینو څخه بولی، وایی‌چه نوموړی یوخورا پوه اودښو اخلاقو خاوند ؤ اودالاندی‌مطلع‌دده‌ده :

بدور روی توام بت پرست میگو یند
چگویم‌ای بت‌من هرچه هست میگویند

ویسی‌هروی: دریاض‌الشعرا خاوند وایی : چه‌دی‌دسلطان حسین‌میرزا دډوری له‌شاعرانوڅخه‌دی دی په هرات کی‌زېږیدلی دی اوپه‌هغه‌ځای کی لوی‌شوی اوتربیه‌شوی دی، ویسی په‌کانبی مشهورؤ فخری‌پخپله‌لطائف نامه په ۶۱-۶ مخو کی دلاهورطبع لیکلی‌دی، چه‌ویسی په کانبی مشهورؤ ، او شعر یی هم وایو اوداویسی‌دساغری له‌معاصرانوڅخه‌ؤ، او عزم یی کړی ؤ چه له حضرت جامی‌سره‌د کعبی شریفی په‌زیارت مشرف‌شی، خوبریالی نه‌شودالاندی مطلع‌دده له‌اشعاروڅخه‌ده :

رفتم بسیر باغ وکنار بنفشه زار
آمد زهر بنفشه مرا بوی زلف یار

ویسی‌هروی : دتاریخی دلائلو اوتاریخی شواهدو له‌مخی هرگندېزی چه‌دی‌دهرات په‌فضل پروره ښارکی په یوه اویوه زمانه‌کی‌دوه‌نفره ویسی‌نامی‌وو، چه‌په‌شعر او خطاطی کښی یی شهرت‌درلود، یوهغه‌ؤ چه‌بیان‌بی تیرشو، بل داویسی‌ؤ چه‌لاندی یی‌بیان‌کوو، دغه‌ویسی له‌وړاندی بیان شوی ویسی څخه لږ څه وروسته‌دهرات په‌ښارکښی ژوندکاؤو، ده‌په‌شعر اوخطاطی کښی یوخاص‌شهرت درلود، لکه‌چه‌دده په خو را ښایسته اونفیس لیك (خط) ډېر آثارلیکلی‌شوی اودنړۍ په اکثر خانه‌کی شته‌دی چه‌له‌هغی‌جملی‌څخه دجامی‌دنفحات‌الانس قلمی‌نسخه‌ده ، چه‌په‌مکه معظمه کښی د(شفائی) شاعر د پاره په۹۲۴کال لیکل شوی دی اودانسخه‌دهرات په‌موزه کی‌ده . همداشان یوه بله نادوه‌نسخه مذکراحباب دحسن‌خواجه بخاری‌ده‌چه په۹۸۳کال‌دده‌په‌قلم‌لیکلی شوی‌ده اودبرلین په کتب خانه کښی اوس شته . و یسی دهغه کتاب په‌پای کی دهغه‌تاریخ داسی‌لیکلی‌دی :

(ویسی) هروی مجاور خاك حرم
در راه نیاز کمتر از خاك قدم
درنهصدو هشتادوسه این نسخه نوشت
اورا بد عا یاد کنند اهل کرم

له‌پورتنیو بیتوڅخه هرگندېزی چه و یسی تر۹۸۳ کالو پوری ژوندیؤ اودحسن‌خواجه دمؤلفه (مذکراحباب) نسخه یی‌لیکلی‌ده ویسی‌یودیوان هم‌لری چه فخر ی امیری لیدلی دی، اودالاندی غزل‌د ده ده :

تابسرشاخ گل‌آن چابك رعنازده است
خار دربای دل عاشق شیدا ز ده است
توئی‌آن طرفه غزالیکه همه آ هوی چین
سرزسودای دوچشم تو بصحرا زده است
درشب هجر رخت ای مهٔ خور شید جبین
موج طوفان سر شکم به ثر یازده است
ساکن میکدهٔ دیر مغا نم چکنم
چون‌رهٔ‌زهدمراآن‌بت رعنا زده است
لاله هانیست شگفته بسر تر بت من
آتش‌عشق‌تو درسینه علم ها زده‌است
از دم خضر ومسیحا شده ام مستغنی
تاسراز آب‌حیاتت خط خضرا زده‌است
بی گل آتش ر خسار توای لاله‌عذار
داغ حسرت بدل(ویسی)سودازده‌است

مولاناهراتی : دریاض‌الشعرا خاوند دوه‌نفره مولاناهراتی گان یاد کړی دی، او یوبی دامیر علی شیر معاصر بللی دی اودامطلع دهغه بولی :

فصل‌بهاروموسم گلهاشگفتن است
ساقی بیارباده چه حاجت بگفتن است

اودهغه‌بل بیان‌بی نه‌دی کړی . اودا بیت یی دهغه په نامه نبت کړی دی :

عمر بگذشت (هراتی) نشد از وصل توشاد
ظاهرا محنت هجران ترا آخر نیست

په‌هر صورت هراتی یوسړی وی او که‌دوه نفره وی خو دافغانستان دهرات دی .

نامی‌سبزواری: دشمع انجمن دیادونی له‌مخی هرگندېزی چه‌نامی سبزواری یونامتو خبریال (سخندان) اودجامی معاصرؤ اودانشا اودخط نستعلیق په فن کی خورا ماهر ؤ ، نامی ډېر اشعار لری چه‌ټول دخدای تعالی په‌ثنا اود حضرت پیغمبر (ص) په نعت کی لیکلی دی . او دنامی یوه قصیده له یو قلمی جونګ څخه په لاس راغلې ده چه په۷۸ بیتو کی دخاقانی دمشهورې قصیدی په ځواب کی ویلی‌شوی‌دی ،چه‌مطلع یی داده :

مرادل پیرتعلیم است و من‌طفل زبان دانش
دم تسلیم سر عشرو خم زانوی دبستا نش

دنامی دقصیدې مطلع :

زحال آنکو بود برمرکب تحقیق جولانش
شودچوگان هلال ومهر کوی وچرخ گردانش

نامی‌خیل ډېراشعار دخدای‌تعالی‌په‌ثنا اودحضرت پیغمبر(ص) په‌نعت کی ویلی دی ، چه‌دهغو له‌جملی‌څخه دالاندی بیتونه‌دی :

ای روشن از جمال تو شمع بیغمبری
فضل خدای دین ترا کرده رهبری
نه کرسی فلك شده معراج عزتت
تابرق سان بیك قدم ازعرش بگذری
جولان بجلوه گاه معارف ترا رسد
کزهر چه حد وصف نبائست بر تری
کونین را بحد ثنای تو راه نیست
داند خدا رسول خدا را ثنا گری
آنکو گدای تست بیك جو نمی خرد
صد تاج کیقبادی و تخت سکندری
مستجمع کمال صفاتی بنور ذات
زیبد ترا هر آئینه آئین سروری
بخشایش تورحمت‌خاص است وفیض‌عام
روز جزا که خوان شفاعت بگستری
هنگام حشر معشر خود یاد کن مرا
یامصطفی که‌صاحب دیوان محشری
یارب بحق دین محمد که رحم کن
در نامهٔ معاصی (نامی) چو بنگری

په همدی موضوع کی نامی د نظم په انواعو کی لکه په قصیده، غزلو ، قطعه، مخمس، ترجیع اونورو کی‌شعر ویلی‌دی. سربیره پردې نامی عشقی اشعار هم‌لری ،چه‌ډېرجذاب اورنګین ویل‌شوی دی .

دالاندی غزل دهغو له ملی څخه دی :

غزل

کام‌جان ایدل زلعل یار جانی مشکل‌است
نا مرادانیم مارا زندگانی مشکل است
بر زبانم نگذرد جز ذکر لعل او ولی
بالبش گفتش سخنهای نهانی مشکل‌است
کی‌توان گفت ایدل‌دیوانه بااوّدرد خود
آشکارا کردن درد نهانی مشکل است
پاس دلها شیوه کن ای پادشاه ملك حسن
گرچه‌شاه کامرانی را پاسبانی مشکل‌است
زان‌جوان‌شد(نامی)ازشوقت که درراه‌طلب
پیری و افتادگی و ناتوانی مشکل است

فقیری هروی : فقیری دهرات له‌شاعرانوڅخه‌ؤ .اوتیموری امراؤ په دوره کی‌بی ژوند کاوه چه امیر علی شیر یوالحی ددی معلومات ورکړی دی چه‌دی دهرات ؤ ، او دالاندی مطلع یی دده بللې ده :

میروم در گوشهٔ میخانه جاخوش میکنم
جام‌می می گیرم وآنجا فرامش میکنم

دالاندی غزل په‌یو جونګ‌کی دفقیری په‌نوم‌درج شوې‌ده:

سرو گلچهرهٔ من ساغر صهبا زده است
آتشی با ز بجان من شیدا زده است
تا نیا ید غم آن ماه ز دلها بیرون
داغ او مهر ابد بر در دلها زده است
نیست بر جای من دل شده جز داغ جفا
خال‌مشکین که بر آن‌لعل‌شکر خوازده‌است
تابصحرا شده است ازبرم آن طرفه‌غزال
از دلم‌صبروسکون خیمه بصحرا زده‌است
آتش آه دلم در هوس بالا یش
ای بسا شعله که در عالم بالا زده است
خاك درگاه کسی باش (فقیری) که‌سپهر
رایت حشمت او فرق ثریا زده است

باقری‌هروی : نصرآبادی وایی چه دی دملا شهاب هروی شاگرد دی، ملاشهاب چه حال‌یی بیان‌شو دسلطان‌حسین بایقرا ددوری له‌شاعرانو څخه‌ؤ،نوباقری هم‌دتیموری له‌امراؤدمتأخرو شاعرانو له‌جملی څخه‌دی ، نوموړی د معما په‌فن کی ښه مهارت درلود ،دالاندی څومعما گانی په‌ډول‌ډول نومونو دده‌دی:

د تاج په نوم

سرمایهٔ جنون است برروی واسان زلف
گویا که‌داغ سوداست آنخالهابرآن‌زلف

د امین په نوم

خوار بودن بشهر یار خوش است
بی سرانجام آن د یار خوش است

د کن په نوم

رقیب‌دید که‌صیدم نمود غمزهٔ یار
زرشك‌سوخت دلش چون بناز گردشکار

جنونی : نوموړی‌جنونی په(ذوفنون)ملقبؤ. دریحانةالادب خاوندوایی چه‌دی دهرات دنهمی پیړۍ له شاعرانو څخه ؤ . او امیرغیاث‌الدین سلطان‌حسین بن‌امیر کبیر فیروزته منسوب‌دی. شوخه‌طبعه یی لرله ، او هزلی او هجو گوئی به‌یی‌ډېره کوله، په تیر د حافظ شیرتی یی ډېری رکیکی هجوی کړی دی . دالاندینی بیتونه په سوال وڅواب کی دده دی :

گفتمش عیداست آن رخسار و ابرو ماه‌عید
گفت آری روشن است این حال نزد اهل‌دید

گفتمش از چیست ماه‌نو چنین مشکل نما
گفت میگر دد زشرم ابروی من ناپدید

گفتمش‌دروعدهٔ وصل تواشکم سائل است
گفت بسیار آن گدا در کوی ماخواهددوید

گفتمش تاماه‌دیگر بر (جنونی) بگذری
گفت اگرصبری کنی‌این‌هم‌بسرخواهدرسید

دالاندی مطلع هم‌دده ده :

هر اهل جنون راز کمند تو زبونی
زآن روی‌در آن حلقه‌زبونست(جنونی)

دولتشاه سمرقندی دجنونی‌وطن اندخوی بولی .

حافظ‌علی : نوموړی دهرات‌دغوریانودی ، لحکه به‌غوریانی مشهوردی اودسلطان حسین‌بایقرا ددوری له‌شاعرانو اوفاضلانو څخه‌دی . به‌شعرویلو کی‌یی ښه‌مهارت درلود ، اومصنع اشعار ډیرلری ، به‌قصیده ویلو کی‌یی ډیر دسلمان ساوجی دقصیدو متابعت کړی‌دی اوبه‌همدې‌لار کی خورابریالی‌وٌ ، چه‌دخیل‌وخت پرشاعرانو یی تفوق در لود . دالاندی رباعی دده‌ده :

(رباعی)

ای در دل زارم زده د ر دت آزر
خالت برخت بر گل نو نافهٔ تر
خطت بلبت شکر شکن مشك ختن
چشمت عبیر شمیم گیسو عنبر

دالاندی مطلع هم دحافظ علی لةقصائدو څخه‌ده :

حریم حرمت کوی تو جنت ابرار
شمیم نگهت بوی تو راحت احرار

ساغری: یولەهغو شاعرانو څخه‌دی چه‌له‌جامی‌سره‌معاصروو، اودهغه خدمت ته‌هم رسیدلی وٌ ، وایی چه‌جامی‌دا لاندینی دوه بیتونه‌دده به‌باب کی ویلی‌دی :

ساغری می گفت دزدان معانی برده‌اند
هر کجا درشعرمن‌یك معنای خوش‌دیده‌اند
دیدم اکثر شعر هایش معنا نداشت
راست میگفت اینکه معناهاش‌رادزدیده‌اند

هرکله چه‌ساغری دا اشعار وارویدل نوشکوه‌ئی شروع کړه جامی به‌څواب کی‌وویل چه‌ما خو شاعری ویلی‌وٌ . نورو به هغه تصحیف کړی‌دی هغه یی (ساغری) کړی دی :

دالا ندی مطلع دده ده :

تاشنیدم که‌توان‌لعل‌تراجان گفتن
آ تشی در دلم افتاد که نتوان گفتن

ثقلمی : دتذکرهٔ حسینی خاوند وایی چه‌دی دسلطان حسین میرزاله‌معاصرو څخه‌وٌ، اودهغه شاعری یی ستایلی‌ده ، اووایی چه‌به هرات کی اوسیدو ، اودالاندی مطلع یی دده به‌نامه‌ثبت کړې ده :

شدبم خاك رهت گربد رد مانرسی
چنان رویم که‌دیگر بگردمانرسی

قدسی : نو موړی اصلاً د هرات دی ، او نوموړی په لقوه ناروغتیا اخته اوهروخت به‌یی له‌خولی څخه لاړی‌بهیدلی،لکه چه‌پخپله‌دی وایی :

باوجود چین دهن که‌مرااست شعر گویم که‌آب‌ازو بچکد

حسن خواجه پخپله تذکره کی‌دمولانا‌قدسی به‌باب کی داسی وایی :

دی دمخ به‌با کی‌مشهور دی او مر غوب ابیات او غوره اشعار لری . دالاندینی غزل وده‌ته منسوب‌دی:

نظم

ای بخنده لعلت را میل شکر افشانی
زان‌دولب چه شرین‌است خنده های‌پنهانی
ازدوچشم تو هرگز ر سم مر دمی نیاید
کافران کجا دانند شیوهٔ مسلمانی
چون‌تو یوسف مصری ای پری عجب نبود
بردرت عزیزان را آرزوی دربانی
بس که کوکب سعدی بر سپهر نیکوئی
می سزد که گویندت مهر وماه تابانی
میکنی شکر ریزی از شکرلبان (قدسی)
طو طی شکر خوانی در فن سخن رانی

حسن خواجه دیوبل قدسی نوم دقدسی‌ترمذی به‌نوم هم‌ذکر کړی‌دی ، نوله‌دې څخه معلومیږی چه‌داقدسی همهغه سړی دی چه‌نوابی دهراتی به‌نامه دهغه یادونه کړې‌ده ، اودا لاندی مطلع یی دده به‌نوم لیکلې ده .

ایکه منعم میکنی از دیدن آن گلعذار
حالت دل را نمیدانی مرامعذور دار

بدیع الزمان: نوموړی دتیموری سلسلې وروستنی پاچادی دی دسلطان حسین بایقرا زوی‌وٌ، چه‌به ۹۱۳ه کال دمحمد خان شیبانی له‌خوا مغلوب‌شو، نودی استرآباد ته‌ولاړ ، له‌هغه‌ځایه بیا شاه اسمعیل صفوی ته ورغی ، اودخیل حکومت بیرته‌به‌لاس راوستلو دپاره یی زیات کوششونه وکړل ، خوبریالی نشو، به ۹۲۰ کال عثمانی سلطان سلیم ته ورغی ، پهغه‌ځای کی له مخلورو میاشتو وروسته مړشو ، بدیع الزمان‌شعری طبع‌درلوده اورنگین اشعار به‌یی ویل .

دالاندی مطلع دده ده :

(مطلع)

چورخسارتو از نوشیدن می لاله گون گردد
درون من‌صراحی وارتالب غرق خون گردد

داهم دده ده

مه من بی‌گل‌رویت دلم‌خون گشته چون‌لاله
جگرهم ازغم هجران‌شده پر گاله پر گاله

دخیل زوی دوژلو په‌باب کی وایی :

وزیدی ای صبا برهم زدی گلهای رعنا را
شکستی زان میان شاخ گل نورسینهٔ ما را

مؤمن‌محمدمومن میرزا : د بدیع‌الزمان‌زوی ؤ، په ۹۰۲ کی دخیل پلار په‌برعلیه پورته شو، خودخبل کاکا مظفر حسین‌له‌خوا مغلوب شو اوبندی شو . هه موده د اختیارالدین‌په کلا کی‌بندی ؤ، اوپه ۹۰۳ کی په‌وژولو محکوم شو . دهم سلیم ذوق او دشعر طبع لرله، دالاندی دوه مطلع دده دی :

(مطلع)

منم کز ضرب تیغم بیشه خالی از غضنفر شد
فلك یاری نکردای دوستان دشمن مظفرشد

داهم دده ده :

فاجرآن مردی که بی‌جرمم درین سن میکشد
کافری سنگین‌دلی گشته است مومن میکشد

دسلیم ذوق خاوندان پوهیزی چه دمظفر اومؤمن‌الفاظ چه په‌قافیه کښی راغلی‌دی، په‌کومه اندازه غوره توب لری :

(هغه خوتنه شاعرانی چه په بخوا زمانه کی په افغانستان کښی تیری شوی دی) .

مهری هروی : یوه ظریفه طبعه شاعره وه ، چه دښه کلام خاونده وه، نوموړې دشاهرخ میرزا په عصر کی وه، مهری دشاهرخ‌دښځی (گوهرشاد آغا) هم جلسه اوملگری‌وه . دآثار هرات خاوند لیکی چه‌مهری‌یوه‌روښانه میرمن وه ، دشجاعت خاونده اودهغی‌دلطیفوتخیلاتو پلوشی دفارسی ادبیاتو پرآسمان باندی‌خلیدی، اودیوهی دروازه یی ددې طایفی بر مخ باندی خلاصه کړې وه، دمهری میړه حکیم عبدالعزیز دشاهرخ میرزا طبیب ؤ، اونوموړې چه دډیر عمر خاوند او مشر سړی ؤ، نومهری له‌هغه سره چندان نه‌وه خوشاله او ددې اشعار خوازه اومتین اوروان‌وو، دالاندی غزل د هغی داد عا شاهد او دهغی دذوق ښودونکی‌دی :

غزل

حل هر نکته که بر پیر خرد مشکل بود
آز مودیم بیك جرعهٔ می حاصل بود

گفتم از مدرسه پرسم سبب حرمت می
درهر کس که زدم بیخود و لایعقل بود

خواستم سوز دل خویش بگویم با شمع
داشت او خود بزبان آنچه مراددل بود

درچمن صبحدم ازگریه وز زاری من
لاله سوخته خون دردل وپادر گل بود

آنچه ازبابل وهاروت روایت کردند
سحر چشم تو دیدم همه را شامل بود

دولتی بود تماشای رخت ( مهری ) را
حیف صدحیف که این‌دولت مستعجل بود

آغابیگه : آفاق جلایر یابیگی هروی : داشاعره چه‌په تذکرو کښی په‌مختلفو نومانویاده شوې‌ده ، دهرات له‌شاعرانو څخه وه، دادامیر علی جلایر لور او درویش علی دامیرعلی شیر نوائی‌دورور ماینه‌وه ، نوموړی یوه شته منه اوبدایه میرمن وه، اوپرشاعرانو اوفقرا ؤ باندی مهربانه وه، او د خپل وخت ډېرو ادیبانوته یی وظیفه مقرره کړې وه، آصفی هروی چه ددې له معاصرینو څخه ؤ، دده‌په‌خیره او مقرری کښی څه‌تاخیر راغلی ؤ، نویی داقطعه ولیکله اوبیگی ته یی ور واستوله ، اوزیاته صله‌او انعام یی لاس ته را ووست :

(قطعه)

آیا عروس خطابخش جرم پوش بگو
که کی وظیفهٔ مارا قرار خواهی داد

بوقت غله مرا گفته ای که بارد هم
سرم فدای درت چند بار خواهی داد

دالاندی دوه مطلع‌د(پرده نشینان سخنگوی ) له‌کتاب چه ددې په‌نامه ثبت شوی‌دی افتباش شوو :

(رباعی)

آبیکه بلب فلك چکاند مارا — سرگشت به‌بحروبردواندمارا
ای‌کاش بمنزلی رساند ما را — کزهستی خود بازرهاند مارا

(مطلع)

آه‌ازآن زلفیکه دارد رشتهٔ جان تاب‌ازو
وای ازآن‌لعلیکه هردم‌میخورم خوناب‌ازو

داهم ددې ده :

غربت چه‌سخن چه داستانست — هرجاکه خوشی وطن‌همانست

بیدلی : د(پرده نشینان سخنگوی ) دکتاب دلیکونکی له وینا څخه داسی څرگندیږی چه (بیدلی) دهرات وه، اودشیخ عبدالله دیوانه ماندینه‌وه ، دزوی نوم یی شیخ زادهٔ انصاری ؤ، هغه‌هم شعروایو، دې شاعرې په نهمه پیړۍ کی په هرات کی زوند کاوه، اودالاندی شعر دهغې‌دی :

روم بباغ وزنرگس دودیده وام کنم
که تانظارهٔ آن‌سرو خوش خرام کنم

یوه بله شاعره بی‌بی هم په دغه عصر کی د دغی کورنۍ څخه وه، یعنی دشیخ عبدالله دیوانه خور وه، او په هرات کی اوسیدله، خواشعار بی له‌منځه تللی‌دی. لحینی تذکره لیکو نکی دابور تنۍ مطلع ددې بولی .

زیبائی خانم : داهم د نهمی پیړۍ له‌شاعرانو څخه، او دمولانا جامی معاصره وه، او هغه یی ستاینه کړې ده، ددې دزېږیدنی اومړینی نیټه نه ده معلومه . او دالاندی مطلع ددې له اشعارو څخه یوه یادونه ده :

مطلع

قامتت شیوهٔ رفتار چو بنیاد کند
سرورا بندهٔ خود ساز دو آزاد کند

ماه : نوموړی‌هغه شاعره‌ده چه د(پرده نشینان‌سخنگوی ) دکتاب‌له‌منځی‌څرګندېږی چه‌دهرات دښار په‌جام کښی اوسیدله ، دې دنجوم په‌فن کښی شهرت درلود اوشعر به‌یی هم وایو . دالاندی‌مطلع ددې‌ده چه‌دخپل‌میړه‌دمرتبې‌به‌باب کی ئی‌ویلې‌ده:

کوکب بختم که‌بود ازوی منور آسمان
بنګرای‌ماه کزفراقت درزمین‌است این‌زمان

**د نثر لیکنی دوهمه‌دوره:** لکه‌چه‌دپارسی نثر په اوله‌دوره کښی یادشوی دی، د نثر لیکنی دوهم سبك له ٦٢٨ هجری‌کال څخه یعنی دخوارزمشاهانو دکورنۍ له نړ ېدو (انقراض) څخه وروسته شروع شوی‌دی، او دلسمی پیړۍ تر اولو وختو یعنی تر۹۰۵ هجری پوری یی دوام کړی‌دی. په دغه موده کښی د مغولو اوتیموریانو دحکمرانۍ دوره وه چه په دغه‌موده کښی یی په‌دې هیواد او فارسی کښی حکومت کړی دی . دمغولو سلطنت پرفارسی محیط باندی یو عجیب تاثیر اچولی دی، او همدا سبب ؤ، چه‌په فارسی نثر کښی لوی تحول راغلی دی . که‌څه‌هم لکه چه ادبی علومو په آنی صورت سره په یومحیط کی تبارزنه دی کړی اونه وده کوی ، په همغه ډول سره مضمحل شوی هم نه‌دی اونه له‌منځه ځی ، بلکه دهرقوم ادبیات تدریجی سیر لری، اوبایده دی چه په تدریج اوبه ورو ، ورو ترقی وکړی، اویادفعتا تنزل وکوی ، نو همدغه دی، کله چه دمغولو دعصر د آثارو په مطالعه او کتنه بوخت کېږو، لحینی داسی آثار گورو چه د مغولو په عصر کی لیکلی شوی‌دی، خو همغه دپخوانو سبك اوطرز لری، نوله همدغه کبله پخوا تردې چه موږ ددغی دورې خصوصیات او احوالات لخانته معلو موو، لازم‌دی چه‌اول ددغی دورې منثور آثار ترنظر تیر کړو ، اوله دغه‌ځیڼه په‌دې دوره کی دوه ډوله کتنا بونه لیدل کېږی، اول هغه کتابو نه دی چه دپخوانو (متقدمینو) دسبك په‌پیروی لیکل شوی‌دی، بل ډول داسی کتابونه دی چه لږ څه نوی او تکلیفی لیدل کېږی، دهغو آثارو په ډله کی چه د پخوانی‌سبك په پیروی لیکل شوی دی، یوهغه (میر زبان نامه) ده چه‌په‌اصل کی په طبری ژبه لیکلې شوی ده ، او وروسته بیا سعدالدین وراوینی د۹۰۷ په حدودو کی تر ۹۲۲ هجری پوری هغه په پارسی ترجمه کړې ده، میرزبان نامه داسی یو کتاب دی لکه کلیله ودمنه غوندی چه دمرغانو اوځناورانو له ژبی څخه په هغی کی خبری شوی دی، داکتاب ټول د ابوالمعانی دکلیله ودمنه په‌سبك اوپیروی اودهغی په‌ذوق اوډول ترجمه‌شوې دی ، گواکی دمیر زبان نامی مترجم یومقلد دی چه د کلیله ودمنه تقلید بی کړی دی .

ددې عصر بل اثر هغه تذکرةالاولیاءدی چه شیخ عطار لیکلی‌دی، پرته دفصولو له مقدمو څخه چه په مسجع نثر او زیاته تکلیفی لیکلی شوی ده، نوری برخی بی ډېری ساده او روانی اوپه پخوانی اوزاړه طرز لیکلی شوی دی .

اودسعدی دګلستان لحینی برخی‌هم ددې مدعا دلیل کیدای شی، ددغی دورې نه منثورو آثارو څخه داسی آثار شته چه په فنی اوتکلیفی نثر سره لیکل شوی‌دی . دا ډول آثار په‌دغه‌قرن کښی اکثریت لری، ددغه وخت په‌آثارو کی له‌معنا څخه د لفظ زیات مراعات شوی‌دی، تردا سی اندازی چه حتی معنا دلفظ قربان شوې ده، اولیکونکی کوشش کړی دی چه دیوې معنا دپرورش دپاره نوی لفاظ اورنګینی کلمی پیدا کړی، نوله دغه کبله یی په‌خپلو آثارو کښی د تکلف اوتصنع لوړه انداز ه ساتلی ده، تردا سی اندازی چه دا اثر دمفهوم اومعنا له‌اداځخه بیخی لیرې شوی‌دی، اواصلی موضوع ګډه وډه او پیچیده شوې ده.له‌دې ډول آثارو څخه یودمحمد بن‌احمدنثوی «نفثةالمصدور» دی چه‌په ٦٢٢ هجری کی لیکل شوی دی، داکتاب په بشپړ اشکال اوتصنع انشاء شوی دی ، اولیکونکی‌یی خپل ټول ادبی وس (قدرت) او استعداد، د دغه نثر په‌لیکلو کی دلفظ وخواته متوجه کړی‌دی، اوداسی یوه جمله نشسته‌چه په هغی کی یوله بدیعی صنعتو څخه لکه جناس، اشتقاق او نور نه‌وی کارشوی، لکه داعبارت «عظام را عظام لکه کوب شده ، یمانی درقداب اقاب جایگیر آمده خناجر باخناجر الفت گرفته ، ملامت ازمیان امت چون زه کمان گوشه نشین شده ، امن و امان چون تیر ازدست اهل ز مان بیرون رفته . »

ددغی‌دورې‌بل‌مهم‌اوبرجسته اثردمحمدعوفی لباب‌الالباب‌دی، ددغه کتاب تاریخی اهمیت دهغه له‌نثری او ادبی اهمیت څخه زیات‌دی،مؤلف سربیره دخپل کتاب پرتاریخی موضوع‌دالفاظو ښایست اودکلماتو بیرابی ته‌هم متوجه‌دی ، لکه‌چه‌ددې کتاب په‌نثر کښی سجع ، ایهام ، مراعات النظیر اواستعاره ډېرلیدل

کېږی ، اوهم یی عربی الفاظ زیات استعمال کړی دی . لکه چه په زړورتوب سره ویل کیدای شی چه په پخوانو کتابو کی به دې اندازه سره عربی ترکیبونه اوالفاظ نه دی استعمال شوی : ددغه کتاب مؤلف ، پرمبنی سړی دی چه فارسی نثر یی له اسانی اوسادګی ایستلی دی او لفظی اومعنوی بنایست یی پکښی راوستلی دی ، نوله دغه جهته په لطافت کښی نیمګړ تیا راغلی ده اوچه مؤلف ددې کتاب په لیکلو کی لفاظی او عبارت پردازی ته زیات متوجه شوی دی ، نوله دغه کبله یی تاریخی مطالب لږ په لاس راوستلی دی . همدغه شان ځینی نور خصوصیات چه ددغی دورې په نثر کښی راغلی دی : چه آیتونه او احادیث او امثله او حکم اوشعرونه یی پکښی راوړی دی ، چه ددغه عصر لیکونکو په مخ یلو آثارو کښی دوصف دغابې اومعنا ته دنه توجه له امله راوړی دی. لکه چه ددې دول آثارو خورا نفیس اثر همغه د «نجم الدین دایه» مرصاد العباد ، دی چه په علم تصوف او اخلاقو کښی یی لیکلی دی چه نوموړی مؤلف پخیل کتاب کی آیتونه او احادیث اولطیف رباعیات او نوراشعار له پارسی او تازی څخه راوړی دی . اوغالباً هغه اشعار یی هم له سنائی او نورو پخوانو استادانو څخه یی دهغو دنامه له یادونې شاهد راوړی دی. یوبل اثر چه په دغه شیوه اودغه سبك یی لیکل شوی دی دجهان کشای جوینی تاریخ دی . چه د سجع اوتجنیس موازنه. اشتقاق اواستدلالات له آیاتو اواحادیثو څخه اوشواهد اومثال دتازی اوفارسی له شعر څخه او دشعر تحلیل اوتلمیح یی اوقرآنی آیتونه سر تربابه په دغه نثر کښی لیدل کیږی ، اودنوموړی سبك زیات عوفی ته ورته دی ، لکه چه کله کله ئی سلیس اولطیف عبارتونه اوکله ئی زیږه اوتکلیفی عبارتونه چه تعقید ورسره وی راوړی دی ، اوهمدغه شان د مغولی لغاتو او کلماتو په استعمال کښی چه وروسته په ټولو تاریخی کتابو کښی معمول اورواج شوی دی ترنورو وړاندی اومخکښی دی . اوخورا ستر تاریخی کتاب چه په دغو وختو کی لیکل شوی دی طبقات ناصری دی چه قاضی منهاج السراج جوزجانی لیکلی دی ، نوموړی مؤلف دغوریانو په دوره کی ژوند اودمغولو دهجوم په اثر له افغانستان څخه فرار اوهند ته تللی دی ، او دناصرالدین قباچه په نامه یی خیل دغه مهم اثر زموږ په تاریخ کی لیکلی دی ، اود «تات» کلمه دتازیك اوتاجیك په معنا یعنی فارسی زبانان په دغه اثر کی شته ده اوپخوانی فعلونه په دغه کتاب کښی ډیر لږ استعمالیږی دفرا فرو ، اندر ، در، برفراز پیشاوندیان پخوا له افعالو څخه منسوخ شوی دی . منهاج السراج اونورومو خینو په شان لکه بیهقی انشائی اوالتزامی افعال په خبری صیغه استعمال کړی ندی اوهم ئی افعال دجملو په آخر کښی بیا بیا اومکرر ندی راوړی گویا دغه لیکوال دنورو هغو لیکوالو اومؤرخینو په شان چه دهغه نه پخوا تیر شوی دی عمه ندی ویلی بلکه له خپله ځانه ئی بوسبك او شیوه اختراع او پیدا کړې ده چه دده نه سل کاله وروسته مؤرخینو د هغه پیروی کړې ده . تردغه ځای پوری په عمومی ډول دنثر لیکلو دوهمې دورې تاریخ موږ کوت او څېړنه موږ کړه اوس په اجمالی صورت ددغې دورې ممیزات اوخصوصیات دهغه دانشا او کتابو سره بیانوو :

١ - څرنګه چه د فارسی وانانو په ادب باندی دعربو هجوم اوحملې اغیزه وکړه اوپه (دری) ژبه کښی تازی الفاظ او کلمات ګډ شول اوپه نظم اونثر کښی مروج اومعمول شول دمغلو غلبی اوهجوم هم عین همدغه اغیزه اوتاثیر دفارسی په ژبه باندی وکړ لکه چه په ډیر ترکی ، مغولی، اوجغتائی لغات اواصطلاحات په فارسی ژبه کښی داخل شول اوپه فارسی نظم اونثر اولیك اومکتوب لیکنه کښی مروج اومتداول شول، اودغه لغات زیاتره عمومی اجتماعی .نظامی اوحقوقی اصطلاحات لکه یورش، چپاول قراول اوداسې نور ، له نظامی مصطلحا تو نه ایلچی ، پرلیغ ، ایل اوداسې نور ، اوحقوقی اصطلاحاتو نه لکه ایاغ ، آقا او داسې نور له عمومی اواجتماعی اصطلاحاتو څخه دی. دمغولی ژبی له تاثیراتو نه یوالحی به فارسی ژبه کښی دمغولی لغاتو اواصطلاحاتو داخلېدل ندی بلکه مغولی تعبیرات او عبارات هم په فارسی ژبه کښی په یادګار پاتی شوی دی چه دهمدغو تاثیراتو له کبله فارسی ژبی خپله اصلی ساده ګی اوروانی په دغه دوره کښی بیخی ولاسه ورکړه .

٢ - هغه وخت چه مغولیانو په فارسی محیط باندی سلطه ومونده نو ددغه ځای به خلکو باندی ئی رنګارنګ ظلمونه کول اودول دول فشارونه اوتنګسیاوې ټ ورباندی راوستلې. ددغه محیط ادیبان اولیکوال په ډیرو سختو زحمتونو اخته شول اوله دې کبله دمایوسی سره اونا امیدی سره مخامخ شول ، اوطبعاً قلمی محصولات ئی له فریادو اوشکایتونو څخه ډك شول ځکه چه دغه دول طرز تفکر پخوا په لیکوالو اوشعراوو کښی چندانی موجود نه ؤ ، بلکه دهمدغی زمانې محصول اوله همدغه عصر نه پیداشوی ؤ. هرکله چه افراد دمحیط تابع دی اومحیطی اجتماعی عوامل ورباندی تاثیرلری له دې کبله دهغوی افکار او ویناوې هم دهغوی دمحیط اوزمانی دغوښتنې اومقتضا سره سمې دی، نودوی نشی کولی چه دخپل محیط او زمانی له چوکاټ نه باندی سنجش وکړی اوهغه ووائی ، بنا پدې بایده دی چه تریوې اندازی پوری دخپل محیط په دائره کښی فکر وکړی ، اوالبته همدغه مفکوره ده چه دقلم په ژبه دنثر یانظم په صورت په کاغذ لیکل کیږی . نودمغولو په زمانه کښی چه یوه غمجنه او دردناکه دوره وه لیکلوالو او شعراوو ناچاره په شکایت، فریاد اوزاری باندی شروع وکړه اومرسته ئی وغوښتله ، له دې جهة په فارسی ادبیاتو کښی یونوی باب پرانیستل شو چه بخوا په ادبیاتو کښی معمول اومروج نه ؤ

٣ ـ لـکه چه دمخه اشاره وشوه دخلکو په‌حقوقو باندی دغه ډول تعدی ، تیری اوتجاوز نه یوائی هغوی ته دشکایت اوفریاد ژبه ورکړه بلـکه نور افکارئی لکه په دنیا باندی عقیده او زړه تړی‌ئی هم خلکوته تلقین کړل ، او هم کرار تصوفی اوعرفانی افکار او روحانی عالم او د ماوراء الطبیعه چاروته توجه کول چه یخوائی په‌فارسی نثر کښی‌لاره مو ندلی وه په اعلی حد اوزیاته اندازه خپاره اوشائسع شول چه په‌دغه لحاظ نه‌یوائی فارسی شعر بلـکه نثرئی‌هم د تیاړې ، اسرارو ادکړ کپچنوالی او پیچیده گیړ سره مخامخ شو .

٤ ـ فارسی نثر هغه فصاحت : خوږ لنی او ساده گی چه یخوائی درلوده دلاسه ورکړه لحکه چه نه یو ې خوا لفاظیړ اوعبارت پردازیړ دیخوانی ایجاز او رو ښنائیړ لحای و نیو اوله بلې خوا د لفظی صنائعو استعمال لکه مراعات النظیر ، سجع جناس اودمعنوی صنائعو استعمال لکه ا یهام ، کـنایه، استعاره ، مجاز اوتشبیهه بی‌حده او بی اندازې په نثر کښی داخل شول . دغه رنگه مغلق لیکل او د غامضو او مشکـلو عبارتونو په کارول اوذهن نه‌لیری اودبی‌فائدی اووچواغراقونو اومبالغو استعمال اودعربی مشکلو ویناوو او مثالونو راوړل اود یخوانیو استاذانو له نظمو نو څخه د نثر ډکول رواج اومعمول شول .

٥ ـ اوزدې لیکنې اوبی فائدی او خیه کوونـکی اطناب په نثر کښی پیداشو ، یوه ډ ېره لنډه موضوع ئی دمسجعو او متوازی الفاظو اوعبارتونو په‌قالب کښی‌راوړه چه هرلوستونکی دهنی په‌لوستلو ستومانی حس کوی ، گویا یخوانی لنډوالی‌او اختصار ، روانیړ اواسانیړ خیل لحای مغلق لیکنې اواطناب‌او اوزدوالی ته‌برېښود، اودیو کوچنی اوبسیط مطلب د ډاډا کولو دپاره دومره حشو او زوائد اوډپرویل په‌کار اچول‌شوی‌دی چه ډېر لنډه اصل‌موضوع دلفظی تکلفاتو او بدیعی تصنعاتو له کبله له منځه ورکیدله لکه‌چه‌ددې دورې د څینو کتابو په‌مقائسه‌لکه تاریخ وصاف ، تاریخ‌معجم . او جامع التواریخ ـ اودمتقدمینو دسبك فصیح کتابونه لـکه‌دتاریخ طبری‌ترجمه ـ دبیهقی تاریخ اوقابوسنامه ، دغه معنی په‌ښه‌شان سره ثابتیزی .

دغه‌وو دنثر لیکنې ددوهمې دورې څینی ښکـاره اوبـارز ممیزات اوخصوصیات ، اوس ددې دورې دآثارو او تالیفاتو په بیانولو پیل کوواودهرې پیړیړ کـتابونه جلا جلا ذکر کوو :

## داوومې پیړیړ کـتابونه :

تاج‌المآثر: دغه کتاب د تاج‌الدین محمدبن‌الحسن‌النظامی اثردی چه‌مولف‌دغه کـتاب ٦٠٢ هجری‌کال کښی دمعز الدین محمد بن‌سام بـن‌الحسین او دده د گمارل شوی : قطب الدین (ایبك) په مدح اوصفت کښی شروع کړ . لکه چه‌دتاج المآثرد کـتاب له مقدماتونه معلومه شوې ده حـسن نظامی دخراسان له خلـکو څخه ؤ اویائی په خراسان کښی استوګنه غوره کړې‌وه چه‌یولحل نیشابورته لاړخوبېرته دغوریانو مرکز « غزنی» ته‌را روان شو اویو څه‌موده ډیلی‌ته تللی‌ؤ .

لباب لالباب : دنورالدین بن‌یحیی بن‌طاهر برعثمان العوفی الحنفی البخاری له‌تالیفاتو څخه‌دی ، دی په اصل کښی دبخاراؤ خو ماوراء النهر اوخراسان ته‌ئی سفر کړی دی تردې چه دسند اوملتان خواته لاړاو دناصرالدین‌قباجه په‌دربار کښی‌ئی‌موقعیت پیدا کړی‌دی . ده‌خیل دغه اثر د عین‌الملك فخرالدین حسین‌بن شرف‌الملك په‌نامه‌تالیف کړی‌دی دغه کـتاب‌په‌دووجلدونو کښی لیکل‌شوی‌دی، لومړی‌جلددامراوو، و زیرانو اودهغو علماوو په شرح حال کښی‌دی چه‌په فارسی‌ئی شعرویلی دی ، اودوهم جلد دماوراءالنهر . خـراسان ، سیستان ، آذربایجان اوافغانستان دفارسی زبـانو شعراوو داشعارو اواحوال په تاریخ کښی‌دی‌او ټول د ١٦٩ تنو شاعرانو دحال په‌ترجمه شامل دی اوپه٦١٧یا ٥١٨ هجری کال کښی تالیف شوی‌دی .

جوامع الحکایات‌ولوامع الروایات : دغه‌اثرهم‌دنورالدین عوفی‌دی چه‌په ٦٣٠ هجری کال کښی لیکل‌شوی‌دی . دغه کـتاب په څلورو‌جلدونو کښی‌دی او هرجلدئی په‌پنځه ویشتو یا بونو مشتمل دی چه‌ټول تاریخی مثالونه ، نوادر ، حکایتونه‌اوقصې اونکلونه‌دی اوله (٢١٠٠) نه زیات حکایتونه‌دی .

نفثة المصدور فی فتور زمان‌الصدوروصدور زمان الفتور: دغه کـتاب یخیله د لیکو نکی او دده دمخد وم یعنی سلطـان جلال‌الدین‌خوارزمشاه په‌شرح‌حال مشتمل‌دی ،مؤلف ئی‌نورالدین محمد بن‌احمد بن‌علی بن محمدالمنشی النسوی دی .

فرج بعدازشدت : ددغه کـتاب اصلی مؤلف قاضی محسن بن علی تنوخی‌دی چه په‌څلورمه هجری پیړیړ کښی‌ئی ژوندون کاوه ، اولومړی ئی‌دغه کـتاب په‌عربی لیکلی‌دی مگرورسته بیا به ٦٥٠ هجری‌کال کښی حسین بن‌احمد موید دهستانی چه‌د عزالدین ز نگی فرېومدی له‌منشیانو څخه‌ؤ پـه فارسی تر جمه کړی‌دی ، اوهم نورالدین محمد عوفی په٦٢٠ هجری کښی دغه کـتاب دناصرالدین‌قباجه په‌نامه ترجمه کړی‌دی چه‌ددغی‌ترجمی آخرنیړ نیمه برخه په‌لاس کښی‌ده .

تاریخ هند : دغه کـتاب لومړی دمنهاج المسالك په نامه په‌عربی لیکل شوی دی اومؤلف ئی محمد بن قاسم سقفی‌دی ،

وروسته بیامعزالدین محمد بن‌سام اوناصرالدین قباجه په زمانه کښی دعین‌الملك وزیر په‌امر دمحمد بن علی بن حمید بن‌ابی بکر کوفی په‌ذریعه په‌پېره شیوا فارسی هغه ترجمه شوی‌دی. ددغه کتاب موضوع دهند تاریخ اودعربو په لاس دسند فتح کېدل دی چه دچچ نامی اویا دفتحنامی په‌نامه‌هم شهرت لری.

طبقات‌ناصری: دغه اثر دناصرالدین‌محمودشاه دشمس‌الدین التمش دزوی په‌نامه د٦٥٨ هجری کال پوری د عمومی تاریخ په‌ډول لیکل شوی‌دی، دهندد‌پادشاهانو‌پېښی او دغزنوی دورې اودمغولو دسلطنت واقعات پکښی بیان شوی دی. ددغه کتاب دلیکنې سبك اواسلوب ډېر روان او سلیس دی. د دغه کتاب مؤلف ابوعمرعثمان منهاج‌الدین بن‌محمد سراج‌الدین دجوزجان له خلکو څخه دی.

نظام‌التواریخ: دغه کتاب دمغولو ترهجوم پوری دایران دعمومی تاریخ دپېښو په باب کښی دی. ددغه کتاب مؤلف قاضی‌القضاة ابوالخیر ناصرالدین عبدالله بن عمر دی‌چه‌په قاضی بیضاوی سره مشهور دی.

فیه‌مافیه: دغه اثر دمولانا جلال‌الدین بلخی له ویناوو څخه دی چه خپل‌شاگرد معین‌الدین ته‌ئی‌ددرس په‌مجلس کښی ارشاد کاوه اوزوی‌ئی سلطان ولد هغه تدوین کړ. مگر د اقبال په نظر یه دغه کتاب دمولانا بهاءالدین دزوی سلطان ولد دی چه په ٦٢٣هجری کال کښی زیښېدلی اوپه ٧١٢هجری کښی‌وفات شوی‌دی. په‌هرحال‌د کتاب‌موضوع ټول‌عرفانی‌مطالب او تصوفی سیرو سلوك دی.

خزائن‌الفتوح: ددغه کتاب موضوع د علاوالدین محمدشاه خلجی دسلطنت تاریخ‌دی. چه دده دجلوس له کال نه تر٧١١ هجری کال‌پوری بحث کوی اوعلائی تاریخ هم بلل‌کېږی او دامیر خسرو بلخی دهلوی د نثر اثردی.

نزهة‌الارواح: دمیر حسینی هروی غوری له‌تالیفاتو څخه دی اوپه ٧١١ هجری کال کښی‌ئی دغه کتاب تالیف کړی‌دی، دغه کتاب دتصوف اوعرفان په‌موضوع کښی‌دی. اود اخلاقی اوعرفانی حکایتونو څخه ډك‌دی، په عربی او فارسی نظم وٌ، نثرسره ښکولی او مزین شوی‌دی. دغه‌لوی‌عالم په اصل کښی په گزیو غور کښی ز یښېدلی دی اوپه‌هرات کښی لوی شوی اونشوونمائی موندلی ده. دده د مړینی کال په‌تحقیق سره‌معلوم ندی. مگر دزیاترو مؤرخینو دلیکنی سره سم په ٧١٩هجری کال کښی په هرات کښی‌وفات شوی‌دی. ددغه لوی عالم دنورو منثورو آثارو څخه طرب‌المجالس دی، ددغه کتاب موضوع دانسان اوحیوان ترمنځ ادبی‌اواخلاقی مناظرې‌اونور حکایتونه دی. روح الارواح هم دده له‌آثارو څخه‌یواثردی چه دتصوف اوکامل بشری سعادت ته دانسانی‌روح دترقی‌ر اوپر مخ تګ په‌باب کښی لیکل شوی‌دی.

طوطی نامه: دغه کتاب په‌اصل کښی دسانسکریت په ژبه تالیف شوی‌دی اوپه‌یوه‌سلسله حکایتونو مشتمل‌دی چه‌په زیاترو ژبو لیکل شوی‌دی. دغه اثر چه‌په ٧٣٠هجری قمری کال کښی دضیاءالدین نخشبی په ذریعه په‌پېره سلیسه فارسی ترجمه شوی دی، زیاتره په چهل طوطی‌سره مشهوردی. ضیاءالدین نخشبی نور آثار هم لری لکه سلك‌اوسلوك، جزئیات اوکلیات، عشرهٔ مبشره، لذت‌النساء او دمعصوم شاه داستان چه په گلر یز مشهور دی.

نگارستان معینی: دغه کتاب هغه لو مړنی اثر دی چه دمعین‌الدین آوی جوینی له‌خوا دشیخ‌مصلح‌الدین سعدی‌شیرازی دگلستان په تعقیب اوتتبع لیکل شوی‌دی، نگارستان دصیانت اوپرهیزگاری، مکارم‌الاخلاق، دحسن‌معاشرت، وعظ ونصیحت عشق و، محبت، فضل‌ورحمت‌اودمتفرقو فوائدو اوه (٧) باهونه لری. معینی دغه اثر دخیل استاذ سعدالدین یوسف حموی په نامه په ٧٣٥ هجری قمری کال کښی لیکلی دی.

احسن‌القصص: دغه اثرهم دمعین‌الدین جو نینی له‌لیکنو او نوشتو څخه‌دی ددغه کتاب موضوع دیوسف او ز لیخا قصه او دسورهٔ یوسف شرح ده.

مناقب‌العارفین: دمولانا جلال‌الدین بلخی په شرح حال کښی یو اثردی چه دشمس‌الدین احمد افلاکی له خوا لیکل شوی دی. شمس‌الدین احمد ددغه کتاب په‌تالیف کښی له٢٤ کلونه زیاته موده تېره کړه ځکه چه‌په ٧١٨کال کښی‌ئی هغه شروع کړی اود٧٤٢ کال نه‌وروسته دهغه په لیکلو بوخت وٌ، دغه کتاب لس فصلونه لری.

نفایس‌الفنون فی عرایس‌العیون: دغه کتاب دیو کوچنی دائرة‌المعارف په‌شان دی چه‌په اسلامی متداولو علو مو مشتمل دی او٧٤٢ کال، نه‌وروسته پای‌ته رسېدلی دی، او دشمس‌الدین محمد بن محمود آملی اثردی چه دشاه شیخ ابو اسحق انجو په‌نامه‌ئی (چه‌په ٧٥٨کال کښی وفات شوی‌دی) په ٧٣٦ کال کښی ددغه کتاب په‌لیکلو شروع وکړه اوله شپږو کلونه په زیاته موده کښی‌ئی پای‌ته ورساوه دغه کتاب په ایران کښی په‌ډېرین چاپ طبع شوی اوموجود دی.

مجمع‌الانساب: دغه کتاب دمحمد بن‌علی شبانکاره تالیف دی اودخلقت له ابتدانه‌پخیله دمؤلف تر زمانی پوری په‌عمومی لنډ تاریخ مشتمل دی. محمد بن علی چه د خواجه غیاث‌الدین محمد دابوسعید دوزیر له‌مداحانو څخه دی خپل اثر دوه ځله

لیکلی دی، لومړی ځل ئی په ۷۳۳ کال کښی دغه کتاب شروع کړ او په ۷۳۶ کال کښی ئی پای ته رسولی دی . د غه کتاب په تبریز کښی دغیاث الدین محمد دکور په لوټهدو اوغارت کښی له منځه لاړ ، اومؤلف مجبور شوچه دغه خپل اثر بیادخپلې حافظی نه په ۷۴۳ کال کښی تالیف کړی اودابوسعید احوال هم ور سره ضمیمه کړی .

تاریخ فیروز شاهی: دقاضی منهاج السراج طبقات ناصری په عنوان په ۷۵۸ کال کښی دضیاءالدین بن رجب برنی له خوا دډیلی دسلاطینو په تاریخ کښی لیکل شوی دی، دغیاث الدین بلبن دجلوس دکال له پیښو څخه دفیروزشاه دسلطنت تر شپیزم کال پوری بحث کوی د(۶۲۲ نه تر ۷۵۸ پورې) دی په ۷۷۵ کال کښی وفات شوی دی، دبرنی دنورو آثارو څخه هماغه اخبار برمکیان دی چه دبرمکیانو په احوالو کښی له عربی نه په فارسی ترجمه اولیکل شوی دی . دغه رنګه دفیروز شاه د حکومت په شرح کښی فیروز شاهی فتوحات دده له لیکنو او آثارو څخه دی .

کبری وصغری : دغه دوه اثرو نه د میرسید شریف الدین علی بن محمد حسینی حنفی ګرګانی له فارسی تالیفاتو څخه دی. دده له نورو فارسی اثارو څخه صرف میر دی ، اوهم دوجود په مراتبو کښی یوه رساله چه د حاجی سید نصرالله تقوی په ذریعه د(رسالة الوجود) په نامه په ۱۳۲۱ هجری کال کښی په تهران کښی چاپ شوی ده .

درج الدر رفی سیرخیر البشر: دسید اصیل الدین عبدالله الحسینی الدشتکی الشیرازی الهروی تالیف دی چه دهرات دمزا راتو رساله ئی هم لیکلې ده، دغه رساله په ۱۳۱۰ کال په هرات کښی چاپ شوې ده .

قدسیه رساله : په تصوف کښی یولوړ او مهم اثردی چه بهاءالدین محمد بن علی محمد بخاری نقشبندی د نقشبندیې دطریقی دموسس تالیف دی .

تشریح البلدان : هغه کتاب دی چه د منصور بن محمد بن احمد بن یوسف بن الیاس په ذریعه د ضیاءالدین محمد دمیرزا جهانګیر ددوهم زوی دپاره تالیف شوی دی . دغه مؤلف نور آثارهم لری چه تشریح منصوری او کفایت مجاهد به(کتاب منصوری) هم نومیږی .

دشاه نعمت الله ولی رسالې : دغه رسالی له پیر شونه زیاتی رسالی دی چه ټولی دعرفان اوتصوف اوفلسفی په موضوعاتو کښی په روانه اوشیوا فارسی لیکل شوی دی ، له دغی جملی نه داصطلاحاتو رساله ، مکاشفات مراتب، برزخ ، حروف وروح ، آفاق وانفس ، دهستیر او نیستیر معنی ، نفس ونکات، دسلب اوصاف اوداسې نورې رسالې دی .

## دنهمې پیړۍ کتابونه

تاریخ رویان : په ډیره محکمه، عالی او فصیحه انشا لیکل شوی دی، داولیاءالله آملی تالیف دی چه د مازندرانوله علماوو څخه یوتن ؤ، دغه تاریخ د ۸۰۵ هجری قمری کال پوری په پیښو مشتمل دی .

ادات الفضلا : په فارسی لغت کښی یواثر او کتاب دی چه قاضی بدرمحمد دهلوی تالیف کړی دی . ددغه کتاب دلیکلو نیټه ۸۰۲ هجری قمری کال دی او دقدرخان په نامه چه دهندوله غوری پادشاهانو څخه ؤ لیکل شوی دی .

مختصر مواهب الهیه : دغه کتاب محمود گیتی په ۸۲۳ کال کښی په ساده اواسان عبارت لیکلی دی او د آل مظفر دپیښو پاتی برخه ئی دهغوی ترانقراض پوری ورسره ضمیمه کړی او (مختصر مواهب الهیه) په نامه ئی مسمی کړی دی .

زبدة التواریخ : دغه کتاب څلور جلدو نه لری اود (بایسنقر میرزا) په امردخواجه نورالدین لطف الله په ذریعه چه په حافظ ابرو مشهور دی تالیف شوی دی . لحینو دغه ټول اثر مجمع التواریخ سلطانی بللی دی . د زیاترو په عقیده ددغه اثر درېمه اوځلورمه برخه چه د ایران داسلامی پادشاهانو په باره کښی پخپله دمؤلف ترزمانی پوری ده له منځه و تلې ده مګر هغه شی چه په دغو آخرو وختو کښی اثبات ته رسیدلی دی دادی چه ددغه کتاب بیل بیل جلدونه دډنیا په کتابخانو کښی په خطی اوقلمی صورت موجود دی . لکه چه ددغه کتاب اول اودوهم جلد په لیننګراد کښی اودرېم اوځلورم جلدئی د ایران کتابخانو کښی موجود دی. دغه کتاب یوعمومی تاریخ دی چه دژوندانه له ابتدا څخه دمؤلف ترزمانی پوری لیکل شوی دی . حافظ ابرو په جغرافیا کښی هم یو کتاب لری چه په (۸۲۰ ـ ۸۲۳) کلونو کښی تالیف شوی دی . ددغه کتاب لحینی نسخی هم په برطانیه، پطرز بورګ، طهران او په نورو لحایو کښی لیدل شوی دی .

ذیل ظفر نامهٔ مولانا نظام شامی : دغه اثر هم دحافظ ابرو په قلم لیکل شوی دی، اویوداسی ذیل دی چه دنظام شامی په اثر باندی په (۸۱٤) کال کښی لیکل شوی دی او دامیر تیمور ګورګانی دژوندانه ورو ستی کال (۷۰۷) ئی نوشته کړی دی دغه اثر داسلامبول دکتابخانی دخطی نسخی له مخی دچکوسلواکی مستشرق فیلکس تاور په کوشش په پراګ کښی په ۹۳۲ کال چاپ شوی دی .

جواهرالاسرار وظواهرالانوار : دمولانا رومی دمثنوی شرحه ده چه دکمال‌الدین حسن بن حسن خوار زمی په واسطه لیکل شوې ده .

اخلاق جلالی : داخلاق ناصری نه‌وروسته هغه‌لومړی اثردی چه‌په فارسی ژبه دخواجه نصیرالدین‌طوسی د افکارو به‌پیروی لیکل شوی دی . ددغه کتاب اصلی نوم (لوامع الاشراق فی‌مکارم‌الاخلاق) دی چه دامیرحسن بهادر خان په نامه چه په ترکمان‌اوزن‌حسن مشهوردی دجلال‌الدین محمدبن اسعدالد وانی کازرونی په ذریعه تالیف شوی‌دی . په‌دغه کتاب کښی مهم اوعمده مطالب هماغه دکور سررشته او انتظام او تدبیر ، داخلاقو تهذیب‌اومدنی سیاست دی. دغه کتاب‌په ( ۸۸۰هجری قمری کال) کښی دلیکلونه خلاص شوی دی .

بهارستان : دشیخ سعدی دگلستان په پیروی د لیکوالو په ذریعه لحینی آثار و لیکل شول هغه لومړی اثر چه د سعدی دگلستان په اقتفا ولیکل‌شو هماغه د معینی جوینی نگارستان دی، وروسته تردې دحضرت جامی بهارستان دی چه په خلکو کښی ئی ډېر مقبولیت پیدا کړ، او دجامی نه وروسته هغه‌وخت چه‌دده کلیات په‌ترکیه کښی داسلامبول ښارته ورسېدل شهرت ئی وموند، په‌دغه لحاظ کښی یو کتاب دنگارستان په نامه هم دگلستان اودجامی‌دبهارستان په‌سبك ولیکل‌شو اوهم د غه‌اقتفا کښی بریالی شو لکه چه دمقدمی په یوبیت کښی ئی داسی ویلی دی :

بهارستان نگارستان مانیست
ولی‌همچون نگارستان مانیست

د جامی بهارستان اوه فصلونه لری په لومړی فصل کښی دمشائخو داحوال په‌ترجمه کښی څوقطعات لیکل شوی‌دی او په اووم فصل کښی دلحینو شعراوو او ددوی د اشعارو په‌باب کښی شرح اوبیان شوی‌دی . جامی دغه اثر په۸۹۲ هجری قمری‌کال کښی لیکلی دی ، دغه‌اثر په‌هندوستان کښی په انگلیسی ترجمه شوی‌دی او په‌همدغه‌لحاظ کښی‌چاپ شوی‌دی ، دفارسی متن‌ئی په ۱۳۱۱کال په تهران کښی دمحمد طباطبائی په‌واسطه په‌ډېرین چاپ طبع شوی‌دی .

نفحات الانس من حضرات القدس : دصوفیه طبقو په شرح حال کښی یوتالیف دی چه دنورالدین عبدالرحمن‌جامی به۸۸۱ یا به۸۸۳هجری قمری‌کال کښی‌لیکل شوی‌دی .

دغه اثر د(٤١١) یا د(٤١٦) تنو (شپڅو اونارینه‌وو) اجله صوفیه‌وو په احوال باندی شامل دی . په اصل کښی دغه کتاب په‌عربی ژبه په (طبقات صوفیه) مشهور دی چه دمحمد بن حسین سلمی نیشاپوری په‌واسطه لیکل‌شوی دی. اووروسته بیاحضرت خواجه عبدالله انصاری دغه کتاب په هروی ژبه تد وین کړی دی ، په‌اخر کښی حضرت جامی دغه کتاب پای ته ورساوه او دهغو متصوفینو احوال‌ئی چه‌دحضرت خواجه عبدالله انصاری چه به (٤٨١کال کښی وفات شوی) اودمحمد حسین سلمی دزمانی‌نه وروسته‌ئی چه به(٤١٢هجری قمری کال کښی وفات شوی دی) ژوندون کړی‌دی تر خپلې زمانی پورې په‌دغه کتاب کښی‌ضمیمه کړل . دغه کتاب په ۱۸۵۹م‌کال کښی په‌کلکته کښی‌چاپ شوی دی .اوددغه کتاب دمؤلف‌په‌باب کښی دانگلیسی ناسویس‌له‌خوا مبسوطه مقدمه لیکل شوې‌ده .

لوامع : دجامی دفارسی رسالو څخه یوه‌رساله‌ده ، حضرت جامی دغه‌اثر په۸۷۵ هجری قمری کال کښی دخمریه ابن فارض دقصیدی په شرح کښی لیکلی دی .

لوائح : په‌عرفان اوتصوف کښی د جامی بل‌اثر دده‌لوائح دی چه نثر او رباعیات گډوډ لیکل‌شوی دی . دغه‌اثر دېرش لائحی لری چه دلحلېدو په معنې‌دی . د براون په عقیده له‌هغی زمانی څخه چه‌دغه کتاب دو ینفلد په‌سعیه او دمحمد قزوینی په مرسته به۱۹۰۶ کال کښی‌چاپ شوی‌دی په‌تصوف اوعرفان کښی دتحقیق او مطالعی لاره‌ئی پرانیستی ده .

نقدالنصوص فی‌شرح‌الفصوص : په‌حکمت اوعرفان اودشیخ محی الدین عربی دفصوص الحکم د مولف دعقیدو په شرح‌او تفسیر کښی (دغه‌شیخ به۶۲۸ کال کښی‌وفات شوی‌دی) یو کتاب دی چه په ( ۸۶۳ هجری قمری کال کښی) تالیف شوی دی . ښاغلی براون نقدالنصوص بوه‌داسی شرح بللی‌ده چه‌جامی‌دشیخ صدرالدین قونیوی دشیخ محی‌الدین عربی دشاگرد پر تالیف باندی‌چه‌نصوص نومېده کړې ده .

شواهد النبوة : دحضرت پیغمبر(ص) اوده‌دآل اواصحابو دلحینو احوالو په‌بیانولو اوشرح کښی دجامی یو بل‌اثردی چه‌په ۸۵۵کال کښی په‌ډېر ساده صورت او به‌سلیس سبك لیکل شوی دی. دغه کتاب اوه‌ر کنونه اویوه‌مقدمه اوخاتمه‌لری په‌دغه‌پول:

مقدمه - دنبي او رسول او په‌دوی د نورو مربوطو مسئلو په‌معنی کښی . لومړی رکن : دحضرت پیغمبر صلی الله تعالی علیه‌وسلم دولادت نه‌یخوا شواهد اودلائل (دوهم‌رکن) دتولد د زمانې نه د بعثت تروخته پورې د پېښو په بیان کښی (دریم‌رکن)دبعثت‌له‌و خته‌څخه دهجرت ترزمانی پورې دواقعاتو په‌بیان کښی (څلورم‌رکن) دهجرت له‌وخته څخه درحلت‌ترزمانی پورې واقعات . (پنځم رکن) دهغه شی په بیان کښی چه‌په‌دغو وختو پورې څه‌خصوصیت نه‌لری‌مگردحضرت پیغمبر(ص) درحلت نه وروسته دهغه د دلالت آثار ښکاره شوی‌دی . (شپږم‌رکن) دهغو دلائلو په بیان کښی دی چه د اصحابو ، ائمه‌وو اوددغه

حضرت د اولاد په ذریعه پیدا شوی دی . (اووم رکن) د هغو شواهدو په ذکر کولو کښی دی چه د تابعینو یا د تبع تابعینو په زمانه کښی تر صوفیه اولیاوو پوری میدان ته راو تلی دی . خاتمه د نبوت د کورنیو ددښمنانو په عذاب اوعقوبت کښی ده.

روضة الاحباب فی سیرة النبی والال والاصحاب : دغه اثر د میر جمال الدین عطاءالله بن فضل الله الحسینی الدشتکی الشیرازی الهروی دی. دغه کتاب د حضرت پیغمبر (صلعم) د سیرة اوددغه حضرت اهل بیت اواصحابو د خویونو په باب کښی لیکل شوی دی ، نثرئی مسجع او مصنوع دی مگر روان اوسلیس او په آیتونو ، احادیثو اوفارسی اشعارو مزین اوښائسته دی .

معارج النبوة فی مدارج الفتوة : د شرف الدین حاجی محمد الفراهی الهروی تالیف دی چه په یوه مقدمه او څلورو ارکانو اوپه یوه خاتمه مشتمل دی . او دده نور آثارهم موجود شته لکه تفسیر فاتحه او د یوسف (ع) د سورة تفسیر چه په مصنع اومتکلف نثر لیکل شوی دی .

اشعة اللمعات : یو اثر او کتاب دی چه جامی د شیخ عراقی د لمعات په شرح کښی لیکلی دی . که څه هم قلمی نسخی ئی چندانی زیاتی نه وی مگر سره دهغه هم په ایران کښی چاپ شوی دی . جامی دغه اثر په ۸۸۵ هجری قمری کال کښی پای ته رسولی دی.

## د سلطان حسین میرزا نه ورو سته د افغانستان ادبیات

څرنگه چه د چنگیز او گډ تیمور خرابیو اوبی پرسانیو په خراسان او لیری اوتړدی مملکتو کښی د ترقی اوتهذیب آثار له منځه لیری کړل ، د شیبانیانو اوصفویانو الوګولو او کشمکش چه زیاتره د مذهب له جنبی نه پیدا شوی ووهم په مملکت کښی د تمدن آثار محو کړل اود هغه د پرمختګ اوترقی مانع وګرځیدل . د تیموریانو د زمانی په آخرو وختو کښی خاص بیا د سلطان حسین بایقرا په زمانه کښی د هرات ښار د شرق علمی او تهذیبی مرکز په تیره بیاافغانستان د پره ترقی وکړه . اود تمدن او تهذیب اثارو په دغو څایو کښی ښه رونق اوترقی وموندله . په نقاشی کښی د بهزاد اوداسی نورو سحر کاریو د یورپ عالم په حیرانتیا کښی واچاوه اودهرات خواته ئی متوجه کړی . دغه رنگه په دغه عصر کښی د خطاطانو ، مذهبانو، شعراوو، علماوو، اودمورخینو ظهور اووجود د توجه وړ اودخلکو توجه ئی لخانته راوګرځوله .معماری، کاشی جوړولواونورو کسبونو اوحرفتو هم د پره ترقی وکړه ، صنعت کاران ، ادیبان ، مورخین، علماء، فضلا ،شعرا اوداسی نور به له هری خوا څخه د هغه زمان د علم اومعرفت د مرکز خواته یعنی د هرات ښار ته راټول اود علم پالو نسکی پاچا او دده د هوښیار وزیر امیر علی شیر نوائی د تربیت اوحمایت له فیض نه مستفید کېدل،مگر د غه ټولې مدنی او عرفانی ترقی اوپیشرفتونه د سلطان حسین میرزا اوده د وزیر امیرعلی شیر نوائی په مرګ سره له منځه لاړل ، اوبیاوروسته له هغه تر ډیرې زمانی حتی ترنن ورځی پوری هم بېرته رانه غلل . ځکه هغه وخت چه د سلطان حسین نه وروسته سلطنت دده بی تجربو ځامنو (بدیع الزمان - اومظفر حسین) ته ورسید د بی اتفاقی اومخالفت له کبله حکومت مخ په ضعیفه د وشو اود شیبانیانو د حملو او تعرض اوسلطی د باره ئی زمینه برابره کړه . شیبانیان هم له ډیری مودې څخه فرصت ته منتظر وو . د یولنډ اړو دوړ او جګړی نه وروسته ئی د سلطنت واګی په لاس کښی ونیول او تیموری کورنی ته ئی خاتمه ورکړه .

د شیبانیانو پیدا کېدل او د صفویانو او نورو سره د دوی مخالفتونه د دغه مملکت دادب ، صنعت او د تمدن د نورو اثارو د برمخ تګ اوترقی مانع وګرځیدل . دغه موجبات ددی باعث شول چه د هرات د عظمت اومجد او د ترقی دوره چه د مملکت اودشرق اوغرب د مملکتو په علمی دورو کښی یوه ډیره ځلانده او روښانه دوره شمېرل کېدله اوهم په ځینو برخو کښی له دغو نورو څخه په مراتبو مخ په وړاندی تللې وه ،د دغه اړو دوړ له کبله له منځه لاړه شی اوبیا بېرته رانه شی .

سره د دغو بیاناتو چه وشول د افغانستان د خاوری داوسېدونکو د شعر اوشاعری مینه اوذوق اود فضل غوښتنی اوادب پالنې روح بیخی له منځه ورك اومړشوی نه ؤ اود یخوا په شان په هره څنډه اوغاړه کښی هر ګندشو په دغه جداوالی اوتفریق چه پخواغزنی، بست، سیستان، هرات، بلخ، بدخشان ،جوزجان اود ګران وطن د اسی نور ځایونه د علم اومعرفت مرکزونه او د نورو پردیو ځایو علما اوفاضلان به دغو علمی مرکزونه راتلل او معرفت اوفیض به ئی حاصلاوه ،په داسې حال کښی چه په دغه دوره کښی د علم ؤ عرفان مرکز زمو نږ د ګران مملکت افغانستان څخه د بر دیو دالوګولو او کشمکشو او د صفویانو او شیبانیانو د یاد شاهانو د جهانګیری د آرزوګانو له کبله د هنداوماوراءالنهر ګاونډیو مملکتونه لاړ اوانتقال ئې وموند ،اود علماوو، فاضلانو، ادیبانو اود شعراوو توجه ئی لخانته راوګرځوله او د دوی ئی دغی خواته رامات کړل ، ګویا د علم اوفضل مثال چه په کلونو کلونو د دغه مملکت په تاریخی او باستانی ښارونو کښی بلېداورونبان ؤ هندوستان اوماوراءالنهر سیمونه ئی مخه وکړه اوهلته وځلېد مخصوصا د هند د مغولی پادشاهانو لو یو بخښونو او ډیروصلو چه د شعراوو اوعلماوو په روزنه او تربیه اوتشویق او په سخا اوجودو کرم کښی ئی د افغانستان د یخوا نیو دوروا و تیرو حکومتو سره رقابت کاوه دغه عمل او کارونه ئی مخ به چټکی کړل اوپه بیړه مخ ؤړاندی روان شول ، د ایران اوافغانستان شاعران او فاضلان ئی د مقناطیس په شان ځانته راښکل ، که چېری سلطان حسین له افغانستان څخه لاړ او کم شو جلال الدین اکبر

اوداسې نور کسان په هند کښې ژوندی اوپیدا شول ، او که چېری امیرعلی‌شیر دهرات دلاسه ووت ابوالفتح او خاقانی په هند کښې میدان ته راووتل . دهندوستان مملکت چه ددری ژبی تخم دلوی محمود لـه زمانې نه راوروسته پکښې شیندل شوی‌او په دروستنیو سلسلو کښې اوبه او روزل‌شوی ؤ ، دهند مغلولیانو دسلطنت اودهغوی دعلم پالونکو وزیرانو په وخت کښې لوړې درجې ته رسېدلې‌او ددری ژبی لـوی روزن ځای (پرورشگاه) اودعلم اوادب ډېرښه کانون وگرځېد.دافغانستان شعرا او فضلا دخپل اصلی وطن څخه چه دکورنی اړوډوړ اود یردیو دجنگونو په‌اور کښې سوځېدل اود هغه په هېڅ یوځنده او خوا کښې امن او سلام نه‌لېدل کېده ، او هم دایران شعرا چه‌داسې شوک ئی پخپل وطن کښې پیدا کولی نشو چه په‌خبرو پوه اوهوښیار وی اوددوی‌دخبرو او شعرقدر نه‌کېده نودسیلاو په شان ئی دهندوستان پراخې سیمې او محیط ته مخه وکړه او ورتوی شول او د شعر او ادب او د علم او فضل بازار ئی تود کړ ـ او لطیف خیالات او بکر او بدیع افکار ئی د شعر به‌قالب کښې واچول ، مضمون ئی پیدا کړ او هنر او کمال ښودنه ئی ښکاره کړه ، اوددوی دغوښتنی سره سم ددوی قدر او قدردانی وشوه اودعزت خاوندان شول .

پیدا کېږی مضمون ئی داسې ځای ته‌ورساوه چه فارسی‌شعر خپله پخوانیږ لاره پرېښودله اوهغه بله لاره ئـی ونیوله چه اساس ئی تر یوې اندازی پوری په‌یوه پـخوانیږ دوره کښې ګېښودل شوی ؤ ، او دغه شیوه ئی دترقیږ او کمال مدارجو ته ورسوله چه په‌هندی سبك مشهوره ده او مـونږ ورځنی دلته بحث کوو :

دهندسبك یاد متأخرو شعرا وو رویه : پخوا له‌دې چه‌ددغه

---

سبك موضوع او دهغه خصوصیات بیان شی لازم دی چه پوه‌شو په شعر کښې دغه طرز او رو یه له کوم ځای نه او څرنګه پیدا شوې ده او دظهور او پیدا کېدو سبب ئی څه شی ؤ ؟

که‌څه هم دهندی سبك په موضوع کښې څرنګه چه بایده او لازم وو هغسی څېړنی او تحقیقات ندی شوی‌مګر سره‌ددې هغه شی چه په لاس کښې دی په دې باندی دلالت کوی چه دهندی سبك مؤسس او پیدا کوونکی (بابافغانی) دنهمې‌هجری قمری پېړۍ اود لسم عصر داولـو وختو مشهور شاعـر دی (بابافغانی دې وکتل شی ) ځینی دغه عقیده لری چه‌دهندی‌سبك اساس په هرات کښې دسلطان‌حسین د شاعرانو په ټولنه کښې چه مشر او پیشوائی جامی ؤ ګېښودل‌شوی دی، وروسته بیائی انکشاف او شهرت پیدا کړی دی او ډېر پیروان اوطرفداران ئې موندلی دی . ددې ډلې شاعرانو مشر لـکه چه وو یل شو جامی ، کاتبی او مکتبی بولی . په‌دې کښې شك او شبهه‌نشته چه دغه سبك رینه او بنسټ د جامی نه ډېر پخوا د شاعرانو په اشعارو کښې هم لېدل شوی دی او د فارسی ژبی دلـویو شاعرانو ځینی بیتو نه موجود دی چه د هندی سبك خصوصیات او ممیزات پـه واضح ډول پکښې لېـدل کـېږی په تـېره بیادامیر خـسرو بلخی دهلوی او د خواجـه حافظ شیرازی په اشعارو او قصیدو کښې دهندی سبك‌اصل او اساس موجوددی .

دغه رنګه ځینو شاعرانو لکه د جامی ، مکتبی ، کاتبی او دنورو ملګرو په اشعارو کښې ئی دغه کیفیت په زیاته‌اندازه پیدا شوی دی ، ځکه چه هندی سبك بذاته پـه نوی طرز او کوم تازه اسلوب ندی چه په‌فارسی ادبیاتو کښې‌پیداشوی‌وی ، په‌حقیقت کښې دهماغه عراقی سبك پیروی او تعقیب دی چه په ډېره مبالغه او اغراق سره میدان تـه راوتلی دی . دبابافغانی ددیوان په مقدمه کښې چه په‌هند کښې چاپ شوی دی پروفیسر منموهن‌لال ماتهر دهلوی لیکی چه : بابافغانی د خپل عمر په اولو وختو کښې دسلطان حسین‌بایقرا په زمانه کښې د هرات خوانه تللی اودمولانا جامی‌په‌دربار کښې دادبی‌ټولنې سرتاج‌ؤ. دهرات شاعرانو د بابافغانی نوی طرز او تازه روش خو نې نه کړ ، ځکه چه‌دغه سبك د هغه وخت او زمان د مروج روش سره مخالف ؤ ، او هم ددغه سبك په اساس او مزیت اوښیګنه باندی پوهېدل دهغوی‌دپاره‌چه په کلونو کلونو ئی په‌پخوانی اسلوب شعرونه ویلی وو کوم آسان کار نـه ؤ ، لدی جهته بیخی توجه ئی ورته ونه کړه . له دغو دلائلو او و یناوو څخه ثابتېږی چه‌ددغه سبك پیدا کـوو نکی بابافغانی شیرازی ؤ ، نه‌جامی او کاتبی او مکتبی اوداسې نور چه دبابافغانی‌پیروانو خاص ببا دنیشاپوری په شان‌پخپل طرز او عرفی شیرازی پخپل اسلوب کښې هغه خپل معراج تـه ورساوه ـ اوس ګورو چه دهندی سبك د پیدا کېدو او میدان ته دراوتلو سبب څه‌شی ؤ؟ ښکاره ده چه‌د بشر ژوندون ورځ په ورځ مخ په تکامل‌روان دی او په تحول کښې دی . شعر او ادب هـم چه د بشر سره یو ځای پیدا شوی او ملګری دی د عصر ، زمـان او مکـان دایجاباتو او د محیط او مملکتو دانتضاآتو له مخې متغیر او په تحول کښې دی . سربېره په دې څـرنګه چه عراقی سبك دغزنوی دوهم دور دسبك له مخې تکمیل شوی او د غـزنوی دوهـم دور سبك د غـز نـوی لـو مـړی دورې د سـبك له کبله تکمیل شوی او دغز نوی اولی دورې سبك ،دسامانی سبك له‌کبله تکمیل شوی دی ، په همدغه ډول اوترتیب هندی سبك ( د هماغو مختصاتو مبالغه ده چه‌عراقی سبك یی لری په دې تفاوت اوفرق چه په‌دغه سبك کښې خیال‌بافی ، دمعنی ابهام اوغموض ، کنایات او استعارات ، ددقیقو معانیو بیان ، او په‌قافیه

اوردیف کښی تفنن ډیر دشاعر دتوجه وړ وٗ) دالاسه کـوی هرکله چه په‌دغه‌دوره یعنی‌دسلطان‌حسین‌بایقرا دسلطنت په‌آخرو وختو کښی اودده له وفات نه وروسته خراسان لکه چه‌وویل‌شو کامله دداخلی اړودوړ او کشمکشو اوهم دشیبانیانو اوصفویانو دالو گولوٗ اوجگړو په‌اور کښی سوځیده . له‌دی کبله پادشاهانو امراوو اومحلی حاکمانو ادب او دشاعر او دصنعت کار روزنی اوتربیې ته ډیره توجه کوله نشوه .لدې جهته هندو ستان چه دامن او امان مملکت وٗ اوشعر خوښونکی او شاعر پالو نکی پادشاهان اوامرائی درلودل نودافغانستان اوایران د شاعرانو توجه‌ئی ځانته راوگرځوله او دفارسی شعراوادب مرکز په‌دغه ځای کښی‌وتاکل‌شو . دهند مملکت لکه چه دهنر اوادب‌محیط اوځای‌دی هندی مثلی پادشاهان او امراهم دذوق خاوندان او زیاتره شاعر اوشاعر پالونکی وو اودشعر له‌بیگنو، مزایاوو اوخصوصیاتو نه‌بنه‌خبروو له‌دې کبله شاعر چه‌شعر وایه بایده‌وو چه‌له‌هره حیثه شعر نوی اوبکر ،نوی طرز اوداسی‌مضمون وای چه‌لاس ئی خوږلی نه‌وای . ځکه کـه‌چیری دتیرو شعراوو په پیروی‌ې او دهغوی په طرز شعر ویل کېدلای طبعا په هغه قوت اواقتدار چه‌پخوانی شاعر او استاد بیان کړی وٗقدرت نه درلود چه‌بیان‌ئی کړی، له‌دی جهته دتوجه وړنه گرځیده اوله دې‌املـه شاعر ناچارو چه‌سعیه‌وکـړی چه داسی اشعار وواځی چه دهند دمحیط سره برابر او د دغه محیط دروزل شوو پاد شاهانو او امراوو د ذوق او سلیقی په اساس وی ، چه‌وگرای شی ممدوح خوشاله کړی او ترلطف اونوازش لاندی‌راشی . په دغه باب کښی‌شبلی نعمانی‌وائی چه‌اکبراو جهانگیرٗ او داسی نور ذوق خاوندان اونکته سنج پادشاهان‌وو له‌دې کبله‌ئی دشعر دفن په ارنقا او اعتلا کښی ډیر کو ششونه کول سر بیره په‌دې هرکله چه هرشاعر له‌نورونه دنژدیکت او تقرب حاصلولو دپاره‌پرمخ تگ او لومړی والی غوښت له دې جهة ددغوشاعرانو په کلام کښی پخپله یوه دلچسپی اوملاحت پیدا کېده، اوپخپل کلام کښی ئی‌خامخا نوی‌والی اوتازه‌گی پیدا کوله ـ اکبر جلال‌الدین که څه‌هم بیسواد او ناخوان وٗ مگر ډیرد بنه‌ذوق خاوند او دخبرو قدردانوٗ دملك‌الشعرائی خاص مقام دده په‌زمانه کښی‌روی‌کارشو اودتولونه لومړی غزالی دغه رتبه حاصله کړه ، داکبر فیاضی ددې‌سبب‌شوه چه دایران شاعران لکه‌سیلاوٗ هندته مخه‌وکړی، دی له‌دغه ځای څخه اوداکبرددربار له‌شعراوونه بوتن دفهرست په‌ډول نومونه یادوی اووائی چه : د پخوانیو (قدماوو) سبك یوناځایه په‌اکبری‌اوصفوی زمانه اودوره کښی بله‌رویه ونیوله عرفی، نظیری، وحشی، یزدی، شفائی او نورو ملگرو ئی ډول ډول خیالات اوبکر افکار پیدا کړل او دشعر اوشاعری‌ې میدان ئی ډیرپراخ کړ . په‌تېره بیادعشق اوعاشقی‌ې رموز اودژوندانه دفلسفی په‌زرگونو نکات‌ئی په ډیر لطیف‌اوپه زړه پوری سبك اوډول بیان کړل چه دپخوانیو په خوب وٗ خیال کښی هم نه وٗ تیرشوی. ددې‌دوري ځلاندوالی اوروښا نتیاپوالحی دجلال‌الدین اکبر اودصفوی شاه عباس دتوجه له برکته وه . کـه څه هم جهانگیر اوشاه جهان په شاهانه کرم اوسخا اوځوان مردی‌ې کښی له اکبر پاچانه وړاندی اوزیات وو مگر دهغوی قواوی اودطبائعو طاقت اوقوت ټول صرف شو او د فطرت دسر چینی له‌فیضان څخه هم بی‌نصیب شول او که‌چیری کوم شی هم ددغو زمانو یادگـار دی داکبر دتحریکاتو نتیجه وه او ده ، قدسی، طالب آملی، ابوطالب کلیم که‌څه‌هم د جهانگیر اوشاه جهان ددربار له‌شاعرانو څخه وو مگر په‌حقیقت کښی د جلال‌الدین اکبر ددورې دنهال ثمره اومیوه‌وه . او په‌بل ځای کښی لیکی چه : په‌دغه ځای کښی مقصد د جهانگیر د ژوندانه شرح نه ده بلکه مقصد دشعرا اوشاعری‌ې دعروج او ترقی‌ې بیان دی چه په دغه پیړی‌ې کښی خیل‌آخرنی معراج ته رسېدلی دی او د پرمخ تگ اوعروج علت هم دشتمنی‌ې حاصلول نه وو بلکه مهم علت اواصلی‌سبب‌داوٗ چه‌دغه سلطانان‌پخپله دموزونی طبعی خاوندان اودفن نقادان‌وو. بنه اوبد شعرئی سره‌پېژندلی شو ، دشاعرانو داشعارو په باب کښی ئی په‌ځای اومناسب‌انتقاد کاوه اودخبرو ځواب‌به‌ئی ورکـاوه، ددغو اسبابو له‌کبله دسلاطینو در بارونه په حقیقت کښی دشعراو شاعری‌ې تعلیم ځای شهرل کېده .

دهنددمغولی‌پادشاهانو دشعر خوښوونکو اوشاعر پالونکو امراوو او وزیرانو کوشش اوتشویق هم په د غه لاره کښی بنې‌مرستې کړی‌دی، لکه چه‌عبدالرحیم‌خان خـانان او ابوالفتح گیلانی نه یوالحی شاعرانو ته تشو یق ورکـاوه بلکه دهغوی دروزنی اوزیاتېدودپاره‌ئی‌علمی‌اوعرفانی‌مؤسسی او دستگاهونه جوړ کړل . دشعر فن‌اکـادمی یاهغه بیت‌العلماء چه دوی‌ترتیب اوجوړ کړی وو مشهور او معروف دی . په‌دغه باب کښی‌وائی چه دشعر په تاریخی ژوندون کښی دویلو وړ پېښه داده چه په هند کښی فارسی شعریو نوی سبك پیدا کړ ، اوددغه نوی سبك دحکیم ابوالفتح دتعلیم په اثر وٗ اوله مأثر ر حیمی نه‌نقل‌کوی چه ددغی زمانی مستعدانو اوشعر سنجوونـکو عقیده در لوده چه هغه نوی سبك چه په د غ ز ما نه کښی دشاعرانو ترمنځ مستحسن دی اوشیخ فیضی او مو لانا عرفی شیرازی او داسی نورو په دغه سبك او روش خبری کړی او شعر ئی ویلی دی دحکیم ابوالفتح په اشاره سره‌دی . سر بیره په‌دغو علتو نوهغه بل کیفیت چه د شعرالعجم خـاوند د نوی سبك په‌باب کښی مهم بللی‌دی هماغه د مغازلی اومشاعری رواج او خپریدل دی چه‌به دغو دربارو نو کښی ئی عمومیت موندلی دی، او وائـی چه‌په‌دغه پیړی‌ې کښی د شعر دترقی‌ې او عروج یوالحینی عامـل

دمشاعرې اومغازلی روا جېدل او عمومی کېدل دی، اوله دې نه پخوا شعرا وو پخپله‌خوښه په‌شعراو غزل‌ویلو کښی د بخوانیو استاذانو استقبال کاوه مگر دبابا فغانی په زمانه کښی د غه رواج پیداشو چه شاعرانو به دمغازلی زمینه برابروله او ټولو به‌په دغه زمینه کښی غزلې ویلې اودامراووته د یوتن په کور کښی به‌راټولېدل اوهریو به پخپل وارخپل غزل او شعر لوست کله ناکله به‌په مجلس کښی دشاعرانو اوادبیانو په منځ کښی معارضه اومکابره کېدله اوشاعرانه سوال وُ ځوابونه به مبادله کېدل . لکه چه همدغه ادبی منازعی او مسابقی په د غه دوره کښی دشاعرۍ د ترقۍ او عروج یوا ځینی باعث وگرځېد .

کخه‌هم دایران لیکوالو اومتتبعینو زیاتره دذوق اوسلیقې له‌مخې هندی سبك غیرطبیعی متکلف او نامانوس بللی اودغه دوره ئی د ادبی فترت دوره بللې ده، مگر سره ددې هم په فارسی شعر کښی په ښکلیتوب او مزیت او دادب په ترقۍ او انکشاف کښی دهغه (هندی سبك) له‌خدمتو څخه ئی هم ستر گی پټی کړی ندی، ددې جملې نه‌آقای شفق‌محقق برجسته لیکی : دمغولو ددورې غیر طبیعی سبك په صفوی زمانه کښی دانحطاط آخرۍ درجې ته رسېدلی او غر یبو ترکیبو او دنا ما نوسو کلماتو اودتودرتو جناسونو استعمال او دکښو وزو نکتو ویل اونازك کاری او مضمون پیداکول او دکړ کېچنو ، مشکلو او باریکومعانیواستعمال دېرمروج‌اومعمول‌شو. دهنداوسېدونکو شعراوو په‌دغه طرز کښی افراط وکړ او په نتیجه کښی دمصنوعی مضمون پرستی متکلف، سبك میدان‌ته راووت چه ځینی دغه‌سبك هندی‌سبك بولی مگر هندی‌سبك ددغه افراط به‌مقابل کښی هنر هم ښکاره کړ او که چېرې‌مصنوعی ، کړ کېچن او مشکل مبالغه ناك مضامین ئی‌ددغه بیت په‌شان ایجاد او پیدا کړل :

شمع را بر سر نمیدانم هوای روی کیست
بوی گل می آید از دور پر پر وانه ام

په‌زړه‌پوری لطیف مضامین ئی‌هم‌پیدا کړل .انصافا په‌دغه بیت کښی سره‌ددې چه مضمون لطیف دی ، نازك‌کاری، باریك اندیښی اوله‌حده زیات اغراق اومبالغه په‌کارشوې‌ده . سره‌ددې حال لکه‌چه اشاره وشوه ددغه سبك دنومیالیو شاعرانو لطافت اوهنرنبودنه باوړله‌نظرنه ونه‌غورځول شی .

د ښاغلی شفق له لیکنو نه وو یل شول کېدلی شی چه دمتأخرینو په سبك یادهند په‌سبك کښی دفارسی‌ادب په‌ترقۍ او او انکشاف پوه شو. دمتأخرینو دسبك په‌موضوع کښی لکه‌چه وویل شول هرنگه چه ددغه روش او اسلوب سره وړاومناسب دی هغسی تحقیقات ندی شوی اودادب محققینو او دفارسی شعر متتبعینو په دغه‌باب کښی د‌ېره‌لږه څېړنه کړې‌ده .

هرکله چه تر ډېری اندازی پوری د هندی سبك په باب کښی معلومات حاصل‌شول اوس د دغه سبك په خصوصیاتو او ځینو شروع کوو مگر ددغو به بیان د شروع کولو نه پخوا نه مکتبونو یولنډ نظر کوو چه په دغه سبك کښی پیدا شوی دی :

په فارسی ادب کښی چه د‌ېر پیروان لری او حتی نن هم په افغانستان کښی دهغه‌ښه هرکلی کېږی ،او دگران وطن زیاتره شاعران په دغه طرز شعروائی دهندی‌سبك مهم‌مکتبونه دجلال اسیر دمکتب روښ‌دی چه‌حضرت عبدالقادر بیدل هغه‌خیل‌معراج ته‌رسولی‌او ختم کړی‌دی، او پخواترشوموډی پوری دماوراءالنهر اوهندوستان ټول ادیبان اوترنن‌ورځی‌پوری دافغانستان ادیبان دهغه دفلسفی اوادب پیروان وواودی. ددغه مکتب بنسټ لکه‌چه وویل‌شول جلال‌اسیر دشاه‌جهان‌معاصر شاعرانیښی‌دی،اوهغه شاعران چه‌دغه‌مکتب ته‌ئی نسبت کېږی ناصرعلی‌سرهندی،مولاناقاسم‌دیوانه اومولانا اکرم غنیمت دی مگر هغه‌څوك چه‌دغه طرزته‌ئی ترقی ورکړه او دټولو لاس ئی دغه ځای ته له رسېدلونه لنډ کړ حضرت بیدل‌دی . دشعرالعجم خاوند ابو اسحق شوکت بخاری هم له دغې جملې نه حسابوی . مگر دریاض الشعرا محښتن واله داغستانی شوکت په مضمون پیداکولو اوخیال بندۍ کښی دیو ممتاز مکتب خاوند بللی او وائی هرنگه چه په هزل او مطایبه کښی څوك د عبید زاکانی درجی ته رسېدلی نشی اوپه نازك‌خیالۍ اومضمون پیداکولو اوخیال‌بندۍ کښی دابواسحق شوکت سره څوك برابر بدلی نشی . په هرحال دی هم له‌هغو شاعرانو څخه‌دی چه‌په‌دغه فن کښی‌ئی‌د‌ېرمهارت درلود اوددغه مکتب له استاذانو څخه وُ . اساسا د هندی سبك بنسټ تقریبا دخبرو په پیچیده‌گۍ ، مضمون پیدا کولو ، اوپه‌خیال بافۍ باندی ولاړ او تینګ شوی دی چه‌جلال الدین اسیر اوهم‌ئی ملگری په‌دغو خصوصیاتو کښی په‌ټولو باندی خاص‌امتیازلری.

ددغه‌سبك دنورو مهمو مکتبو څخه دعرفی او فیضی د کښی دوه مکتبونه دی چه د غه دواړه په مستقل ډول په هندی سبك کښی شهرت لری اوډېرو لږو کسانو دلاسه شوی‌دی‌چه ددوی فاسفی اوپېروی‌ۍ ته‌په‌قصیده اوغزلو ویلو کښی ورسېږی کـه‌څه‌هم دغو دوو لویو شاعرانو پیر وان هم درلودل مـگر څوك ددوی درجی ته‌ندی رسېدلی . دشعر العجم خاوند فیضی دقصیدو په‌باب کښی لیکی : چه په قصیده ویلو کښی‌ئی دخیلو معاصرینو په‌نسبت نوې طرح اینی او استعمال کړې‌ده . ځینی معاصرین دغه عقیده لری چه‌کلیم دفیضی‌دسبك پیرودی اوفیضی دخاقانی او خاقانی د عنصری پیرودی . په هرحال فیضی پخپله یومقتدر شاعردی چه بیله‌انکار نه‌دیومکتب بانی‌دی . دغه‌رنگه دعرفی په‌باب کښی ټول په‌دې اقرارلری اومعترف دی چه‌دیو نوی مکتب مؤسس دی .

کلیم‌همدانی، طالب آملی او سلیم تهرانی دځینو خصوصی

نهانی
مدعا
ی دی،
ه لنډ
شعر
خالی
ت او
واضح

۱- دمخه وخت اود معانیو مغلقو الی اواغلاق : دمخه وویل شول چه دهندی سبك اساس تقریبا په مضمون پیدا کولو ،دبیان په کسر کپچنوالی اومشکلتیا ، خیال بندی او په داسې نورو باندی کپښودل شوی دی له دې جهته دهندی سبك شاعران د مضمون په جوړولو کښی کله دو مره دقیق کېدل چه شعر به سلاست او روانی دلاسه ورکوله او اغلاق او مشکلتیا به ئی پیدا کوله او لحینی دومره عمیق اودقیق کېدل چه دمعما په ډول به واوښتل لکه:

هلال یکشبه راچون قرین بدر کشید
هزار خوشهٔ پروین ز آفتاب چکید

شاعر په دغه بیت کښی له خپلې خیرې نه دخولې اومعشوق پاکول ادا کړی دی . او دغه رنګه دشوکت بخاری دغه بیت چه آتش بار فغان ئی د خلکو غوږونه داور خوږو نکو مرغانو د استوګنی ځای ګرځولی دی :

گوشهارا آشیان مرغ آتش خواره کرد
برق عالم سوز یعنی شعلهٔ غوغای من

۲- مضمون پیدا کول ارخیال بندی : دغه صفت دهندی سبك دزیاترو شاعرانو په اشعارو کښی لېدل کېږی ځکه چه ددغه سبك ټولو شاعرانو کوشش کړی دی چه داسی مضمونونه په لاس راوړی چه بکروی اودبل چا له خواویل شوی اوهر ګندشوی نه وی، لکه چه کلیم یوه زړه پوری اوبرجسته او بدیع مضمون دپیدا کولو دپاره له سپهر خخه یوه کرسی دفکر ترښیولاندی زدی او وائی چه :

من نهم در زیر پای فکر کرسی ازسپهر
تا بکف می آورم یك معنی برجسته را

له دی جهة شاعران په دې خیال کښی وو چه له هرې موضوع نه که څه هم ترپښو لاندی لوبدلی او عادی هم وای استفاده وکړی او یورنګین اوبدیع مضمون په لاس راوړی مثلا کلیم دخپلو پښو (کفش) له شکېدلو خخه استفاده کړې اوداسې نوی مضمون ئی په لاس راوړی دی :

بخیهٔ کفشم اگردندان نماشد عیب نیست
خنده می آردهمی برهرزه گردیهای من

شوکت درعنا له ژیړ رنګ نه استفاده کړی اووائی:

ازبرای سرخ روئی سعی بیش ازپیش کن
چون گل رعنا خزان رازیر دست خویش کن

غنی کشمیری دشهرت طلبی د څرنګوالی په باب کښی دمیاشتی دهر ګندوالی خخه استفاده کړی اووانی چه :

نیست شهرت طلب آنکس که کمالی دارد
هرگز انگشت نما بدر نبا شد چو هلال

کله دغه ټولګی شاعرانو دبکر اوبدیع مضمون دحاصلولو په سعیه او کوشش کښی دومره غلو اومبالغه کړی ده چه حتی دخپلو ویناوو اواعتقاد په خلاف ئی وینا وې کړې دی اوددې دپاره چه په لاس راغلی مضمون هرڅنګه چه وی هغه ولیکی او د لاسه ئی ورنه کړی یوه واحده موضوع ئی په دوو نقیضو معنا ګانو استعمال کړی ده لکه صائب په یو بیت کښی دابرام داسې صفت کوی.

ازشرم دربستهٔ روزی نکشاید
این قفل کلیدی بجز ابرام ندارد

په بل بیت کښی ئی ددې په خلاف نظر په بنکاره کړی اوداسې وائی :

خون جگر است اینکه به برام ستانند
رزق توهمان است که موقوف طلب نیست

۳- دخیالی اوله ذهن نه لیری مضامینو پیدا کول اوله حقیقت نه لری تشبیهاتو او استعاراتو په کارول اوکله هم لطیف، طرفه اوجدید په دغه سبك کښی شیوع لری. مثلا په دغه بیت کښی داستعاری لمن دومره پراخه ده چه له فهم او ذهن نه لیری بنکاره کېږی او حقیقت پکښی نشته ځکه چه شاعر دزاهد دوچې طبعی اوسترګو اوده داوداسه (وضوء) داوبو په باب کښی داسی وائی:

فیض باب دیده نتوان یافت درآب وضوء
کاش زاهدرابجای ریش مژگان ترشود

شاعر په دغه بیت کښی دمعشوقی دبدن لطافت او نازکی داسې بیان کړې ده .

چنان نازك بدن باشد که گر بینی بگلزارش
بیا ازسایهٔ مژگان بلبل میرود خارش

طالب دمعشوق دبدن طراوت او تازګی دباغ اوشاخ له پسرلی نه زیاته بللې او ویلی ئی دی چه :

زغارت چمنت بر بهار منت ها است
که گل بدست تو ازشاخ تازه ترماند

٤ - استغنا اولوړهمتی : ددې دورې دشاعرانو په اشعارو کښی خاص بیاددغه فکر بنکاره کول ډېر لېدل شوی دی، کله ئی بښې له خپل ګلم نه اوزدی کړی او ډېری بلند پروازی ئی کړی دی. عرفی شیرازی وائی :

دهر مردا فگن بمیدانم کند تکلیف ومن
این متاع افتاده بر بالای بسترمیخرم

حضرت بیدل‌داستغنا په‌مقابل کښی دحاتم دنوم‌اخستل ننگ اوعار بولی اووائی چه :

سخادر کشت استغنا پر کاهی نمی اززد
کداگر نیستی تاچند گیری نام حاتم را

طالب آملی‌بی بندوباری اووښتانو دماغ له‌هدنه تیر کړی اوویلی ئی دی :

پروز حشر بدو زخ روم بساول گام
دلو دماغ رسن بازی صراطم نیست

حضرت بیدل په شهید استغنا باندی دکفن احسان ننگ بولی اووائی چه :

منت کفن ننگ است بر شهید استغنا
غیرت شرر دارد مرد نی که من دارم

عرفی په‌بل بیت کښی بیله طاعت او عبادت نه جنت ته تگ بی‌انصافی بولی اووائی چه :

گرفتم آنکه بهشتم دهند بی طاعت
قبول کردن و رفتن نه شرط انصافست

حکیم رکنای کاشی په‌دغه خیل بیت کښی استغنا آسمان ته رسولی اووائی چه :

گرفلك یك‌صبحدم بامن گران گردد سرش
شام بیرون میروم چون آفتاب از کشورش

یوبل شاعر په دغه سبك سره وائی :

دست من ازلقمهٔ چرب کسی آلوده نیست
میخورم چون شمع مغزاستخوان خویش‌را

۵ ـ دنغزو اوطرفه کلمانو او ترکیبونو پیدا کول اوترل: نظامی گنجوی په‌دغه لاره کښی دفارسی ادبیانو پیشوادی ، ده پخپلو خمسه وو اونورو اشعارو کښی‌نوی ترکیبونه پیدا کړی اوپه‌کار کړئی‌ی‌دی‌چه‌پرلږ دنوروشاعرانودتوجه‌وړ گرځیدلی‌وو دغه رنگه په‌هندی سبك کښی ز یاترو شاعرانو کوشش کاوه چه‌بدیع اوطرفه ترکیبونه پلاس راوړی اوپه کارئی واچوی چه‌خپلو اشعارو ته تازگی ورکړی . دغه ترکیبو نه په بداعت اوطرفگی کښی بو مثا له دی مثلا بحر زاده ، حسن آباد، نشتر کده، یکدیده‌نگاه، نرگستان ، نشه‌پیمائی؛ معجزه رنگ آسان ربوده، یك آغوش گل ، یك خندهٔ لب، بازیگاه طفلان، خندهٔ زیرلب، گریه پنهانی ، نشتر خیز، رمزفروش، مریم کده، اوداسی‌نور چه‌دبیدل، عرفی ، نظیری،صائب، ناصرعلی، کلیم، مظهر، شوکت، واقف، سلیم ، طالب اودنورو په اشعارو کښی په‌ډیره اندازه مو جود دی .

٦ ـ مدعا مثل : که‌څه‌هم دغه صنعت دپخوانیو شاعرانو په اشعارو کښی هم کله کله لیدل شوی دی مگر دهندی سبك شاعرانو خاص بیا کلیم همدانی، سلیم تهرانی، صائب اصفهانی، بیدل عظیم آبادی، اوغنی کشمیری هغه خپل معراج ته ورساوه له‌مدعا مثل نه مقصد دادی چه شاعر په ډیره مصرع کښی ادعا کوی اوپه دوهمه مصرع کښی د خپل قول داثبات دپاره دلیل راوړی، هرڅومره چه دلیل قوی اوبرهان محکم‌وی په همغه اندازه ادعا ډیره مثبته اوصحیحه ښکاره کیږی . دبیدل ، صائب اوغنی کشمیری په اندازه ددلیل پاڼه کولو کښی چاودان ندی وړی . کلیم په‌دغو بیتونو کښی دقول اثبات داسی کوی :

سفله ازقرب بزرگان نکند کسب شرف
رشته پرقیمت از امیز ش گوهر نشود
مدعی گر طرف ما نشود صرفهٔ اوست
زشت آن به که به‌آئینه برابر نشود

☆ ☆ ☆

بامن آمیزش اوصحبت موج است و کنار
روزوشب‌بامن‌وبیوسته گریزان ازمن

☆ ☆ ☆

ازهنر حال خرابم نشد اصلاح پذیر
همچو ویرانه که‌از گنج خود آبادنشد

حضرت بیدل‌په‌دغو بیتونو کښی دحجت اتمام‌داسی کوی:

مکن گردن فرازی تانسازد دهرپامالت
که‌نی آخرزجرم سرکشیها بوریا گردد
اگر مردی در تخفیف اسباب تعلق زن
کزانگشت دگرانگشت‌نریك‌بندکم دارد

☆ ☆ ☆

اظهار عجز نزد ستم پیشهٔ ابلهیست
اشك کبّاب باعث طغیان آتش است
کینه در طبع ملایم نکند نشو ونما
فارغ ازجوش غباراست زمینیکه‌نم‌است

غنی کشمیری په‌دغه‌ډول خپله خبره په‌کرسیر کښینوی :

گردهی‌تن به بلا به که بدز دی پهلو
کشتی‌ازسیل‌بود ایمن وپل‌درخطراست

☆ ☆ ☆

بر تواضع های‌دشمن تکیه کردن‌ابلهیست
پای بوس سیل از پای افگند دیوار را

صائب اصفهانی د مدعا اثبات کوی:

☆ ☆ ☆

آدمی پیر چو شد حرص جوان میگردد
خواب در وقت سحرسخت‌گران میگردد
رای روشن ز بزرگان کهن سال طلب
آبها صاف در ایام خزان میگردد

☆ ☆ ☆

عقل کامل میشوداز گرم و سردروزگار
آب وآتش میکند صاحب برش شمشیررا

ازتیرآه مظلوم ظالم امان نیابد
بیش ازنشانه خیزد ازدل فغان کمان‌را

۷- دژبی دورلحینو اصطلاحاتو او محاوراتو داستعمال زیاتوالی‌په‌دغه‌دوره کښی آخرته رسیدلی او شاعرانو ترکوم لحای‌پوری چه‌دلاسه‌ئی شوی‌دی استعمال کړی‌دی ، گویا دهغو په‌کارول یوډول تفنن شمیرل کیږی صائب په دغه محاوره کښی چه‌باید خیلې پښې له‌خیل تغرنه اوږدی نه‌کړی وائی چه!

پای ازگلیم خویش نباید دراز کرد
تیغ‌ستم ببین چه بزلف آیاز کرد

غنی کشمیری په‌دغه‌موضوع کښی‌چه روستائی سلام‌بی‌مدعا نه‌وی دپارسا دنمانځه په‌باره کښی وائی :

نماز پارسا بی مطلبی نیست سلام او سلام روستائی است

بیاهم‌دی دغه‌اصطلاح چه ( دیوالونه مونږکان‌لری‌اومونږکان غوږونه) داسې بیانوی :

تاحرف می پرستان گفتی شنید زاهد
هشیار باش اینجا دیوار گوش دارد

داصطلاح نه مقصد دخیل‌دکان اوبازار گرمول‌دی دمشتری اوخریدار (بلورونکی اوپیرپدونکی ) دتوجه راگرځول اوجلبول دی . بایعه طبقه دغه‌موضوع هغه وخت په کارو ی چه تقاضا زیاته‌شی، په دغه‌صورت کښی دغه مال به ئی چه ضرورت ورته‌موجوددی لږ عرضه کاوه چه‌بازار گرمشی اونرخ لوړشی غنی‌دغه‌محاوره په خوازه اوښه صورت سره راوړی اودعرضی اوتقاضامسئله‌ئی په‌ښه‌شان سره واضحه کړی‌ده :

نهان‌شد شمع درفانوس بیتاب‌است پروانه
به تقریب دکان خویش‌خوبان گرم‌میسازند

دخیلې اصطلاح او محاورې ورځ کول دکبر اوغرورنه عبارت‌دی او دخیل حدنه‌زیات گام اخستل دی اودغه هغه وخت پیدا کیږی چه‌دولت‌ته ر سیدلی نوی دولت ته ورسیږی .

سید اشرف دغه‌معنی داسې ادا کړی‌ده :

در کمربند مرصع شد میان اونهان
هر که یابد دولتی خو درا چراگم‌میکند

غنی کشمیری دغه‌معنی داسې بیان کړی‌ده :

می فرستد به بدر پیر هن خالی را
یوسف ازدولت‌حسن‌این‌همه خودرا گم کرد

نظیری «خبره دخبرې نه ولاړ‌یږی » ضرب‌المثل په دغه مصرع کښی ( افسانه دافسانی نه‌پیدا کیږی) په صورت په کار کړی دی :

(شب آخر گشته و افسانه ازافسانه میخیزد)

دستر‌گو کولو استعمال چه د ستر‌گو پسه محاوره کښی زخم رسول دی صائب په‌دغه بیت کښی وگوری :

که چشم کرد دل داغدار را صائب
که دود تلخ از ین لاله زار میخیزد

خیل‌سرنیول او تلل یوه‌داسی اصطلاح‌ده چه‌دلحای ، کیفیت اویادمسئلې دپرښودلو اوترک‌کولو په‌معنی‌ده کلیم‌دغه‌موضوع په‌دغه‌مصرع کښی داسې ادا کړې ده :

( گریان زبزم رفت‌وسرخویشتن گرفت)

سربیره په دغو اختصاصاتو اومیزاتو چه وویل شول نور کوچنی خصوصیات هم توجه جلبوی اولکه دبدیعو صنائعو کثر استعمال چه‌دهندی سبك شاعرانو په‌دی زمینه کښی خاصه توجه کړې‌ده معما اوتاریخ ویل‌هم په‌دغه‌طرز کښی کثرت‌درلود دغه‌رنگه‌دهندی سبك شاعرانودمطلب دښکاره کولواودمضمون دلاسه نه ور کولو دپاره دادبی جنبې نه دلیری تر کیږیاتو او کلماتو اود عا میانه الفاظو داستعمال هم‌لحان ژغورلی ندی مثلا په‌دغه‌بیت کښی د ترشروئی اوبی‌پیر الفاظ په‌داسې‌حال کښی چه‌ادبی کلمات ندی استعمال شوی :

باشراب تازه زاهد تر شروئی میکند
کوجوان‌مردیکه سازد کاراین بی‌پیررا

دغه وو هغه‌معلومات چه‌په لنډصورت دهندی سبك په باب کښی ولیکل شول، اوس دافغانستان دلسمې پیړۍ د شا عرانو په‌شرح حال شروع کو و :

## دلسمې پیړۍ شاعران

ابدال : له‌هغو شاعرانو هغه یوتن شاعردی چه په‌بلخ کښی زیږیدلی او روزنه او نشوونما اووده ئی موندلی ده، دی دمحمدخان شیبانی معاصردی اوپه‌شعر اوشاعرۍ کښی‌ئی لوړ مقام درلود ابدال د سیر او سیاحت دپاره دخیل د زیږیدنی له لحای څخه سفرو کړ اودآذر با بجان خواته لاړ، اوپه هغه‌لحای کښی‌دسلطان یعقوب‌خان په دربار کښی‌لحای پیدا کړ اوترتوجه لاندی راغی او دسلطان یعقوب‌خان دعمر تر آخره پوری دده سره پاتی شو، او دسلطان یعقوب خان له مرگ نه وروسته اصفهان ته لاړ اوځه موده وروسته‌شاه اسمعیل صفوی‌ته ورسید اودعمر تربایه پوری‌ئی په دغه لحای کښی ژوندون وکړ ابدال هزاله طبع در لوده زیاتره اشعارئی دمطایبې رنگ لری اوپه دغه سبب اشعارئی لږ په تذکرو کښی در ج اولیکل شوی‌دی، دابدال دغه بیتونه د بلخ دمأثر له‌تذکرې نه اقتباس اواخستل شوی دی :

فرد :

دار دنیا نه مقام من ثا بت قدم است
من وآن‌دار که دروازهٔ شهرعدم است

ولـه

ای زتاب می ترا هرگونه بررخسار گل
سبزهٔ باغ جمالت اندك وبسیار گل

قطعه :

هرچند که کارتـو درین گنبد گردان
چون قـد الف، هیـچ خـم وپیچ نمود
امروز مکن تکیه برین حرف که فردا
معلوم تو گردد که الف هیـچ نـدارد

پارسا : دعبیدالله خان شیبانی د زمانې دلویو فاضلانو او مدرسینو څخه ؤ اودبلخ شیخ‌الاسلامی ئی په‌لاس کښی لرله ، نوم ئی عبدالهادی ددوهم ابو نصر زوی دی چـه په درې پشته خواجه محمد پارسانه‌رسیږی، سره ددې چه په‌رسمی اودتدریس په چارو مشغول ؤ کله کله ئی شعرهم وایه ، دغه مطلع ددې ده چه دعبیدالله خان دهرکلی د پاره ئی ویلی ده :

شکر میگویم که خان عرصهٔ دوران رسید
خان دین پرور عبیدالله غـازی خـان رسید

پارسا تر (۹۵۰) کال پوری هم ژوندی ؤ لحکه چه ده په (۹۵۰) کال کښی دخواجه محمد پارسا قبر او مرقد بیـا نوی جوړ کړی‌دی، اودغه مسئله دسلطان محمد له‌قطعې نه‌چه دهغه داتمام په‌تاریخ کښی ئی ویلې‌ده واضحه معلومیږی قطعه داده ،

عبدالهـادی خواجهٔ نیـکو کردار
فـرموده بنـا مـرقد آبـای کبـار
هرگـه بطواف مرقـد خواجه روی
از (مرقد خواجه) سال تـاریخ شمار
«۹۵۰»

درویش : دمأثر بلخ دیبا ن له‌مخې نوم‌ئی محمد اوتخلص ئی درویش دی، ده‌د لسمی پیړۍ په نیمائی کښی ژوندون کاوه اودگستن قراصیبانی په زمانه کښی مفتی ؤ ، دی دخیلې زمانی دلویو اوخوش طبعو شاعرانو څخه ؤ، دمولانا ابوالخیر سره چه تخلص ئی عاشق ؤ دده مطایبات مشهوردی . هغه وخت چه گستن قرا چه په(۹۵۰) کال کښی د لهونتوب په‌عارضې اختەشو لحینی علما اوفاضلان ئی شکنجه کړل اوډول ډول زجرونه ئی ورکړل، ابوالخیر عاشق هم له‌بنار نه وایستل شـو، مولانا درویش دغه یقطعه منظومه کړه :

ای‌مردم شهر شکر سلطـان گوئید
درشهر شمـا کـدورت غیر نمـانـد
چون لنـگ ابوالیخیر برآمد ازشهر
تـاریخ بجز ( لنگ ابوالخیر) نماند

هرکله چه درویش تر ۹۵٤کال پوری ژوندی ؤ، نوامکان لری چه د۹۵۰ - ۹٦۰ یـا د ۹۷۰ کلونو په منـځ کښی وفـات شوی وی .

نوید : دبلخ دلسمی پیړۍ‌دخوږ اوخوش کلامو شاعرانو څخه ؤ، دلحوانۍ په‌اول کښی ډېر بې‌قیده اوبې‌باکه ژوندون کاوه، وروسته بیائی توبه وایستله، اودزهد اوپرهیز گـاری په حلقه کښی داخل شو، اویولحل په ۹۵۱ کال کښی ئی حجاز ته سفر وکړ، اوبه ۹۵۳ کال کښی د بیت‌الله شریف پـه حـج مشرف شو، یوځموده په هندکښی دهمـایون سره پـاتی شـو اوهند دفضلاوو اوادیبانو سره‌ئی‌مجلسونه اوصحبتونه وکړل، نوید زیاتره په کـلنگ مشهوردی ، په‌خطاطۍ کښی په‌تېره بیا په نستعلیق خط کښی لوی لاس‌او ډېر مهارت‌درلود، په‌بلخ بخارا اوسمرقند کښی ئی تحصیل وکړ اوبه (۹۷۰) کال کښی وفات شو دغه غزل ده ویلی دی :

( غزل )

بسته بر گل گـره سلسله مشکین را
سوخت جان من سودا زدهٔ مسکین را

امیر سلطان ابراهیم امینی : دریاض الشعراء خاوند لیکی چه : ده امینی تخلص کـاوۍ. دصفویه‌محمود دخوند میرداحوالو په تـاریخ کښی را وړل شوی دی چه دی دهرات له مخو رو کـسانوځخه ؤ اویوډېر هوښیار اولوړهمت اوخوږ ژبی‌سړی‌ؤ دشهزاده والاګهر میرزای مغفور (۹٤۱) په رکـاب کـښی د ازبك به جنګ کښی شهیدشو دغه بیت دده دی :

درچمن یار چوبا آن قدوقامت برخاست
سرو بنشست ز دعوی وقیامت بـرخاست

دغه بیت هم‌دده دی :

گـل وشگوفه همه‌هست یار نیست‌چه‌سود
شگفت غنچه ولی لعل یارنیست چه سود

سلطان : دبلخ‌دلسمی هجری‌قمری پیړۍ له ماهرو تاریخ ویونـکو شعراوو څخه دی ، نوم‌ئی سلطان‌محمـد اود مولانا درویش محمدمفتی زوی‌دی، پخپله‌هم یوځه موده دفتوی پرمسند ناستؤ اوتر(۹۵۹ه) پوری چه دخواجه پارسا دمـرقـد دیبا جوړېدو تاریخ‌ئی ویلی‌دی ژوندی ؤ ، اوله‌دې نه معلومیـږی چه‌دی په(۹٦۰) اویاپه (۹۷۰) کال کښی وفات شوی‌وی،‌ده‌دغه رباعی دحضرت‌خواجه پارسا دمرقد په تاریخ کښی ویلې ده :

رباعی :

عبدالهادی خواجهٔ نیـکو کردار
فرموده بنا مرقد آبـای کـبـار

هر گه بطواف مرقد خواجه روی
ازمرقد خواجه سال تاریخ شمار
(٩٥٩ق‌ه)

سقا : نومئی بهرام‌ؤ اود بلخ له‌خلکو څخه‌دی یوغریب اوعاجز اوفقیر مشرب سړی‌ؤ ، سیر او سیاحت ئی ډیر کاوه یووار هندته‌لاړچه خیل‌پاتی عمر په سر اندیب کښی دحضرت بابا په‌اډیره اومرقد کښی په‌مجاوری تیر کړی ، مگر دشیخ بابو دخیل‌پیر اومرشدپه امر بردوان ته لاړ او په همدغه‌ځای کښی په(٩٧٠)کال وفات‌شو . سقاپه شعرؤ ویلو کښی شه مهارت اولوی لاس‌درلود، ، اوبودیوان ئی هم‌درلود چه‌له‌دپرشو زرونه زیات بیتونه‌یکښی وو، دغه غزل اوشولاندی بیتونه له ماثر بلخ نه اقتباس اواخستل شوی دی :

غزل

نشاط زندگانی با غم مردن نمی ارزد
حیات‌خضراگر خواهی بجان کندن نمی‌ارزد
بعشرت گر نشینی سالها در بستر راحت
بخشت ز یر پهلو درلحد خفتن نمی ارزد
بعلم وفضل اگر علامهٔ عالم شو ی ایدل
بیك‌حرف‌ازخط اعمال‌خودخواندن‌نمی‌ارزد
اگر پشت فلك ازبار طا عات توخم گردد
بمیزان حساب آخر بسنجیدن نمی ارزد
بجنت گرنباشد وعدهٔ دیدارش ای‌سقا
تمام حورو غلما نش به‌یك‌دیدن نمی‌ارزد

دغه‌عشقی‌بیتونه هم‌دده دی :

درمنزل لیلی نبو د لاله دمیده
خون دل‌مجنون بود ازدیده‌چکیده
از دیدهٔ اغیار براه تو غبار است
افسوس که‌برخاك‌رهت‌چشم‌رسیده
تا دور شده ازخم ابروی توسقا
قدش چومهٔ نو بفراق تو خمیده

والهی: دگستن قرا ددورې له‌شاعرانو څخه‌دی چه په بلخ کښی په‌سپین زیرتوب کښی ئی په شاعری شهرت موندلی دی دخیلې زمانی په خلکو کښی په شاعری کښی ده لوړ مقام حاصل کړی‌دی ، دی په ٩٧٧ کال کښی وفات شوی دی دغه‌غزل دده دی :

(غزل)

گرفتاری چومن در کنج‌محنت‌مبتلا اولی
بکوی عاشقی افتاده پا های حنا اولی
بدردبی دوای عشق خرسندم که میدانم
دوای درد منعشق درد بیدوا اولی
سری کزعشق‌خوبی نیست‌دروی‌شو روغوغائی
بر آنم‌من که‌آن‌سرخاك به‌ازتن‌جدا اولی
بطرف کوی‌خوبان خواهم ازسرپا کنم هردم
که‌در کوی پری رو یان بسورفتن زپااولی
مکن ای والهی اندیشه ازبی مهری خو بان
که‌خوبان جهان بی‌مهر خوش‌تربی وفااولی

ارسلان : په اصل کښی دبلخ دی دعبدالمؤمن خان شیبانی په‌زمانه کښی‌ئی ژوندون کاوه . د تاریخ په ویلو کښی ئی لوی لاس‌درلود ، داکبر داولادې په‌تاریخ کښی دده قطعات‌په‌لاس کښی‌موجود شته . دی وروسته تردې چه دحج له‌سفر نه هندته ورسېد داکبر دربارته ورغی اود ملازمت هیله ئی کوله دی‌د٩٧٧کال نه وروسته زمانی پوری چه‌دجهانگیر دزیږېدنی دتاریخ‌قطعه ویلی‌دی هغه‌قطعه داده :

نمود ازبرج دو لت آفتابی — که‌نورش تافت ازمه‌تابماهی
الحمدلله که‌روشن‌شد زنورش — چراغ دود مهین پاد شاهی
چوتوظل‌خداخواهدشدافزون — زشاهان‌چون‌پدررادین‌پناهی
خرد ازبهر مو لود شریفش — یکی افزود بر ظل(الهی)

فدائی : دی یوله‌شپو شعراوځخه‌دی ، دی دهجری قمری په‌لسم قرن کی په بلخ کی زیږېدلی اوهلته لوی شوی دی ، اوهم په بلخ کی تربیه شوی‌دی ، دغه ښاغلی وقاسم کاهی‌ته ارادت درلود ، اوده معاصر دی ، څرنگه چه دی هندته دسیاحت په‌ډول ولاړ اوبیرته‌چه دهند څخه راغی په کابل کی میشت‌شو . دی اکثره په تجارت بخت، او کله کله ئې‌ښه شعرهم وایه، دغه‌لاندی اشعار دده دی : غزل :

قد تو نخل مراد است ونامراد منم
کسیکه دامن مقصد زدست‌داد منم
مرا کسیکه‌زدل یکنفس نرفت توئی
ترا کسیکه نیامد گهی بیاد منم
فدائی‌ازغم واندوه ونیك وبدفارغ
درین زمانه به غمهای یار شادمنم

رونقی: دچراغ انجمن خاوند عبدالحکیم رستاقی لیکی‌چه «دتذکره مذکر الاحباب‌څښتن لیکلی دی چه دی دبدخشان دی اودمعانی دصرافانو په نزدده دخبر و جواهر ډیرقیمت لری .»

دی یوله هغو شاعرانو څخه دی چه دلسم قرن په منځنی برخه کی‌ئې ژوند کاوه ، او په ٩٦٤ هجری قمری کال کی مړ دی ، دااشعار چه چراغ انجمن کی‌دده په نامه ضبطه‌دی :

فرد

تاثیر عشق بین که‌بیك لحظه شیخ شهر
بر باد داد طاعت هفتاد ساله را

(مطلع)

دربدخشانم وصد کوه بلا برجانم
کان لعل است ازآن دیدهٔ خون افشانم

بیت

تمنای لب لعلی که خونش را بجوش آورد
که آب لعل ازسر چشمه میجوشد بدخشانرا

صبوحی : دی ځینی هراتی گڼی اوا کثره ئې دبدخشان بولی، منگر ډېر دبدخشانی په تخلص سره شهرت لری ، ښه شعر ئې وایه، په ادب کی ئې غښتلی لاس در لود ، دی دجهان گښتنې په نیت هندته ولاړ اوبه ۹۷۳ کال هلته وفات شو ، لاندی اشعار په چراغ انجمن کی دده په نامه ثبت دی :

مطلع

چنان ازناله شب دلتنگ سازم پاسبانش را
که بر خیزد رود بامن گذارد آستانش را

دا بیتونه هم دده دی :

زیرلب دشنام ای نامهربان دادی مرا
گشته بودی از تغافل بازجان دادی مرا

☆ ☆ ☆

فغان کزچشم آن نامهربان ز آنگونه افتادم
که هرگز چشم او برمن نیفتا دست پنداری

موجی : دی په بدخشان کی زیږیدلی اودلسم قرن دشاعرانو څخه دی، ده په مثنوی ویلو کی ښه لاس درلود دجامی دیوسف زلیخا په اقتفا کی ئې یوه مثنوی په شپږزره بیتو کی منظومه کړی ده، دی تل دامراؤ په خدمت کی ؤ ، دعمر په آخر کې ئی نوکری پر ښودله انزوا ئی غوره کړه ، په پای کی هند ته ولاړ ، اوبه آگره کی به ۹۷۹ کال مړشو، دغه لاندی مطلع دده ده:

مطلع

خمار بادهٔ غم چند دارد سر گران ما را
بیاساقی واز غمهای دنیا وا رهان مارا

بیت

داهم دده دی :

ساقیا تا کی زدوران شر ح بد حالی کنیم
شیشهٔ پر کن که یکساعت دلی خالی کنیم

مداحی : دی هم د بد خشان دی، ده څوعمر دمیر زا عزیز کوله په خدمت کی چه په لسم قرن کی ؤ ژوندون کاوه ، دغه لاندی دوه بیتونه دده دی :

مطلع

انتظا ری داشتم کامروز یارم میکشد
وه که پیدا نیست یارو انتظارم میکشد

☆ ☆ ☆

دلاصد فتنه بر بازان قد بالاست می گوئی
ازآن بالا بلا بسیار دبدم راست میگویی

مولینا مظفرالدین : دی دکابلی کاهی همعصر ؤ ، چه په ۹۸۷ کی وفات شوی دی، مولانا مظفرالدین هم دمیرزا عزیز کوله په حضور کی ژوند کاوه، ده دکابلی قاسم کاهی وفات دتاریخ قطعه (خوش طبع) میندلی اوهغه ئې پدې څېر په نظ کی را وستلې ده :

قضا را قاسم کاهی به عالم
بسی بود وبسی دید وبسی گشت
چو وقت آمد از ابن دنیای فانی
قدم بر هم نهادو زود بگذشت
ازآن (خوش طبع) شد تاریخ فوتش
که چون اودرجهان خوش طبع نگذشت

نوشر گنده شوه چه مولانا مظفرالدین د ۹۸۷ کال په شاوخوا کی د دنیا څخه تللی دی .

لاغرسیستانی : دی دسیستان دشاوخوا څخه دی، دی د (قاضی لاغر) دپونگر قاضی په لقب سره شهرت لری، دی هزلی اوشوخه طبع لری، دمذ کرالاحباب خاوند لیکی چه : دسیستان په ولایت کی دوه قاضیان وو، یوپونگر، اوبل څورب ؤ، وایی چه دسیستان با چا دغه چاغ قاضی دملك دسیاست له کبله مړ کی ، او احسان ئی پرپونگر قاضی واچاوه، دده د وژلو دپاره پونگر قاضی دغه مطلع ولیکله :

قتل مرانه از سر یاری گذا شتی
از بهر نزاری و لا غری گذاشتی

اوهم دی لیکی چه یوه ورځ باچاقاضی دخیل مجلس ته وروغوښت په دغه ترڅ کی ده شراب خوړل ، قاضی دستی بالبدیهه دغه قطعه جوړه کړه ومجلس ته ئې ورو استوله :

شهنشها زکرم ، عذر بنده را بپذ یر
ز خدمت دوسه روزی کناره کنم
مرا زصحبت تو ما نع است امر قضا
توخود بگوی بحکم قضاچه چاره کنم
زیاده منع تو نتوانم ونیکو هم نیست
که می خورند حریفان و من نظاره کنم

مولانا آگهی هراتی : دی د تنقید کوونکو شعرا ؤ، څخه دلسم قرن ؤ، اوښه آزاده طبع ئی درلوده خواجه احمد نثاری

لیکی چه‌دهغی‌قصیدی په‌جواب کی چه‌په بحرالابرار سره معروفه وه اوامیر خسرو دهلوی بلخی جوړه کړې یوه شهرا شوبه قصیده ویلی اودهرات ټوله امراء اوغټان‌ئی په‌داسی ډول ذکر کړی چه‌ددوی دحال سره وړه ؤ، چه دهغو جملې څخه‌ئې د غه لاندی بیت دمیرمحمد اومیر یوسف په باره کی ویلی د ی چه دغه کسان دهرات دسیدانو څخه وو، او دامرا ؤ او حکامو په خدمت کی بوخت وو :

جلد مصحف کنده وجرم نقاره سا خته
مهشود معلوم ازین کو باغی پیغمبر است

امرا ؤ اوحاکمانو ددی عامی هجو له کبله‌دده ژ به اولاس پرې کړل، وایی چه ددغه ملا ژبی چه څه لږ کلالت در لود هغه ترژبی تړپری کولو څخه ورو سته ورک شو، لکه چه دی پخپله په‌یوه مصرع کی وایی :

( زبان بر یده چه شمعم ولی زبانه فزون شد )

په هغه شهرآشوبه خپله قصیده کی خپل‌ځان داسی یادوی :

آگهی پیری‌عصا در دست ونقرس درقدم
آنکه‌اورامسخی اندرباومسخی درسراست

میرم سیا : اصلا هراتی دی، خو ش طبع سړی ؤ، اکثره ئې هزلی اودهجو اشعار ویل، دتحفهٔ سامی خاوند لیکی چه : «ده مشرب‌ته پرمذهب ترجیح ورکوله، اوده اکثره وخت په هزل اوفسق تیریدی » میرم سره له‌دغه بی قیدی یو داسی شاعردی چه ترخپلو همعصرو شعرا ؤ څخه ئی میدان په خپله قوی طبع وړی دی ، ده یوسفرو ماوراءالنهر ته کړی دی ، اوهم په هغه محیط کی مړشو، دده شعری قوت‌ددی غزلی څخه ځرګندیدلای شی :

( غزل )

فرصت‌غنیمت است بکش جام سلسبیل
نقد حیا ت را نشده هیچکس کفیل
یك دلبر ازقبیلهٔ خوبان و فا نکرد
هرجا که بود سنگدلی بود ازین قبیل
ازدشمن ضعیف بترس و قوی شمار
ازبیم پشه خواب نیا ید بچشم فیل
میباش بی‌طمع که عزیز جهان شوی
دیدم بسی عز یز که شد ازطمع ذلیل
میرم زدست لاله عذاران بطرف باغ
بستان توجام باده وبگذار قال وقیل

دارباعی هم دده د لطف څخه تشه نه ده :

آن سرو روان که قد رعنا دا رد
ما نند الف‌میان میان جان جا دارد
با لای بتان بلای جا نست بلسی
من بندهٔ آ نکسم که با لا دا رد

مو لانا هجری بلخی : دحسن خواجه د ویلو له کبله دی دبلخ دقاضی وراره ؤ، ښه مشرب او آزاده طبع ئی درلوده، په تجارت‌بوخت ؤ، په‌شعر کی‌ئی ښه‌لاس‌درلود، دی په‌تبریز کی مړدی، دسرخاب پر غونډی ښخ دی، دا مطلع دده ده :

مطلع

غریب کوی تو کسی‌نیست این‌چنین که‌منم
غریب تر که بخاطر نمی رسد و طنم

رحمی : دی دکابل دخوا جه زاده گانو ؤ ، ښه خوی ئې درلود، او خوش طبع ځوان ؤ، دتحصیل دپوره کیدو د پاره بخارا ته ولاړ، بیاهندته رهی شو، هلته ځوانی مرگ شو ، په شعر کی‌ئی ښه قدرت درلود تخلص ئی رحمی اوداغزل دده‌دی :

خیال آن خم ابروی چون هلال خوشست
اگر چه دورخیالست این خیال خوشست
بشام عید نظر میکنم با برویش
که شام عید نظر جانب هلال خوشست
برنگ زرد کنم عرض حال خود بااو
که پیش‌یار باین‌رنگ عرض‌حال خوشست
اگر چه نیست یقین دیدن جمال ترام
ولی بکوی تو رفتن با حتمال خوشست
چه‌خوش بود که رسم‌باوصال او «رحمی»
که مبتلا شدهٔ هجر را وصال خو شست

ذکاء : دبدخشان دامرا ؤ، او حکاموڅخه ؤ، په‌دریم پښت وامیر تیمور کورګان ته رسیدی ، نوم‌ئی‌سلیمان، دجان میرزا زوی . چه‌هغه دسلطان محمود،دی دابوسعید ، دی دامیر تیمور زوی ؤ، په ۹۲۷ هجری قمر ی په بدخشان کی زیږیدلی دی، پلارئی جان میرزا په ۹۲۷ کال مړشو، بابرمیرزا له کابل څخه خپل زوی همایون دبدخشان وحکومت ته واستاوه، هرکله چه بابر هندوستان فتح کی دوهمه‌پلاټی دبدخشان‌حکومت وسلیمان ته ور کړ، سلیمان دحکومت تر کارو علاوه شعر هم وایه، اوښه طبع‌ئی در لوده ، په ۹۶۷ هجری قمری‌کال په‌لاهور کی مړشو، وایی چه دارباعی ئې د خپل زوی میرزا ابراهیم په مرثیه کی چه‌په بلخ کی دپیر محمد خان په‌جنګ مړشو و یلی ده :

ای لعل بدخشان زبد خشان رفتی
مانند خور شید درخشان رفتی
دردهر چو خا تم سلیمان بودی
افسوس که از دست سلیمان رفتی

دریاض‌الشعرا خاونداوحسن خواجه‌وایی چه میرزا ابراهیم

بدخشانی دارباعی درحلت پەوخت کی ویلې ده ، دا مطلع هم دذکاء ده :

دلم بگرفت از کار جهان ساقی بده جامی
که یکساعت بیابد این دل سرگشته آرامی

وفایی بدخشی : میرابراهیم وفایی دمیرزا سلیمان ذکاء صادق خلف ؤ، دمذکرالاحباب خاوند لیکی چه د غه شاهزاده خوش طبع سړی ؤ، وصحبت ته ئې ډېرمیل درلود، خورا اورژبی سړی ؤ چه سیال ئی پەخبرو کی نه درلود، اهل فضل ئی خوښوه ، پرصلحا ؤ اوفقیرانو ډېر محربان ؤ، دېیسو په ور کړه ئې ښه لاس خلاص ؤ، واله داغستانی وایی چه دی په شجاعت اوسخاوت او کمال کی دخیلی زمانې یوستوری ؤ، میرزا ابراهیم په ۹٤۱ کال کی چه دهغه دتاریخ ماده ( کونخل امید پدر ) ده دبلخ دحاکم پیرمحمدخان ازبك په جنگ کی ووژل شو ، میرزا ابراهیم پەشعر ویلو کی ښه قدرت درلود ښه اشعار ئی ویلی دی دغه لاندینی بیتونه دده یادگار پاته دی :

مطلع

در کوی که باشم که پەاز کوی تو باشد
درروی که بینم که پەازروی تو باشد
سنبل زلفش دلم رارام نتوانست کرد
شاخ نازك بودمرغ آرام نتوانست کرد

مطلع یخه

زخامهٔ مژه از اشك سرخ برر خ زرد
نوشته ام غم دل رنگ بین و حال میرس
ملالتی است دلم را که گر کنم تقریر
توهم ملول شوی موجب ملال میرس

مولانا عبدالصمد : دمذکراحباب خاوند لیکی چه دی دبدخشان دی، ده شعر ددرده ډك دی همدغه لاندی مطلع ددی شاهد کیدلای سی :

مطلع

برسریر دلبری معشوق راصد گونه ناز
عاشق بیچاره را برخاك غم روی نیاز

مولانا بیخودی بلخی : همولیکی چه دبلخ دی ، ښه اشعار لری، دامطلع دده ده :

گرا بروی ترا نشدی ماه نو غلام
ایام هرگزش نه نهادی هلال نام

فغانی هروی: اصلاهراتی ؤ ،اوهلته ئې معرفت اوتعلیم حاصل کړی دی په شعر کی ئی ښه قدرت اوپوره مهارت درلود دی وهندته ولاړ همایون دربارته ورسید ، بیاد اکبر بادشاه پەملازمت بوخت شو، ښه خوازه اشعار ئې یادگار پری اینې دی چه ددغه جملې څخه ئې دالاندی غزل دامیرفخری په تحفة الحبیب کی باقی پاته دی.

مهیاشدی وساغر حریفم یار بایستی
بجام باده عکس آن رخ گلنار بایستی
شبی گفتم بخوابت آیم ومردم من ازحسرت
که چشم من بخواب و بخت من بیدار بایستی
زکویش تا ببردی هرطرف باد فنا چشمم
تن فرسوده چون کاهی برین دیوار بایستی
مرا پرسید یارو یافتم صحبت چه بیدردم
زبهر این عیادت سالها بیمار بایستی
فنائی بی رخش گلهای رعنا دیدم و گفتم
بجای هر گلی درچشم من صد خار بایستی

میرامانی: دی دکابل دساداتو څخه ؤ ده دخپل عصر دمعمولی علومو تحصیل کړی ؤ پەشعر اوشاعری کی ئی ښه لاس درلود دتاریخ دمادې پەویلو کی ښه ماهر ؤو، دغه دتاریخ (۹۵۳) ماده ئې دچغتائی سلطان په وفات کی ویلې ده :

سلطان چغتا بود گل گلش خوبی
ناگه اجلش سوی عدم رهنمون شد
چون موسم گل عزم سفر کرد ازین باغ
دلها به عمش ته به ته آغشته بخون شد
تاریخ وی از بلبل ماتم زده جستم
در ناله شدو گفت (گل از باغ بیرون شد)

امانی دشعر یودیوان پای ته رسولی ، پەغزل ، رباعی قطعه او نورو کی ئې خپله طبع ازمویلی او کامیاب شوی دی هند ته ولاړ پەجونپور کی دآس څخه ولوید او په ۹۸۱ کال کی ئې دفانی نړی څخه رحلت کړ د غه بیتونه دده دفکر محصول دی:

مسجد وصومعه و خانهٔ خمار یکیست
هیچ جاغیر مبین درهمه جا یار یکیست

دکابل په صفت کی وایی:

دربها ران کابل ازباغ ارم دم میزند
چون شود فصل خزان آتش بعالم میزند
دل بفکر آن دهان در تنگنای حیرتست
حیرتش روداده ازجایی که جائی حیرتست
درین گلشن دل خون گشته پیدا نمیگردد
که ازدست تو نبودلاله سان صد داغ برجانش
نشان گرزان دهان خواهی دلا نیکو تامل کن
که این مشکل معمائیست نتوان یافت آسانش

بنائی : دسکنیة الفضلاء خاوند دقاموس الاعلام پەروایت سره لیکی چه دی دکابل دکوهستان دقصبې څخه دی او دهمایون پەوخت کی ئی هندوستان ته لیښنگ (هجرت) و کړ داشعر دده دی:

بی‌مهٔ روی‌تو کارمن بیمار بدست
وه که بیمارغم‌عشق ترا کار بداست

حاجی‌محمد: دی‌به‌کابل کی‌زیږیدلی، منګردهمایون په‌زمانه کی په‌هند کی تربیه‌شوی‌دی، دی دهمایون به ملازمت کی ورو ورو لوړی رتبې اوعالی‌مقام ته ورسیدی ، کله کله ئې شعر هم‌وایه ،دغه لاندی دوه بیتونه ده ته منسوب دی :

صد آرزوست در دل تنگم گره زدوست
دل نیست در بسرم گره آرزوی اوست
ای بساتوبه که چون توبهٔ دیر ینهٔ من
خوبسرویان بشکستند بیک چشم زدن

خانی کابلی: خان‌محمد په‌اصل کابلی‌وو ، دهمایون په‌دربار کی‌ئې په‌هند کی‌ژوندون کاوه، په۹۸۵ کال مړدی ، که څه هم لږینی‌ئی بخارایی ګڼی منګرپه‌کابلی توب کی ئې شک نسته دغه‌لاندینی‌بیتونه دده دی :

مطلع

اگر بیارمن ازمن کسی دعا بر ساند
دعا کنم که خدایش بمدعا برساند

څلور یځه

دوش ماه‌عیدشد بر شکل‌مصقل آشکار
کز بخار روزه بود آئینهٔ دل راغبار
آن مهٔ نوبود یا بنمود از ضعف بدن
استخوان پهلوی لب تشنگان‌روزه‌دار

خندان خطاط : دی دکابل دلسم‌قرن دلمړی‌برخی‌دشاعرانو څخه‌وو ، په‌خطاطی کی‌ئې اوږ دلاس‌او په‌شعر کی‌ئې پوره قدرت درلود ، دسکنیة‌الفضلاء خاوند دتذکرهٔ سلطانی په حواله‌لیکی چه‌دی دخراسان دخوشنویسانوڅخه دی ، دی دهغې ز مانې یوفرددی‌اما په‌پول‌پول بی‌تکلیفه‌واقعاتو کی کښېوتلی،اوخیل‌لحان لیونی‌بولی ، ددغو لاندنیو بیتونسبت وده‌ته کیږی :

مطلع

ای خرم آنکه روز بمیخانه ساخته
وزهمدمان بساغر وبیمانه ساخته
بریز خون مراساقی و بساغر کن
چه میشود توهم از خون مالبی ترکن

خواجهٔ خردبیګی : ده عمر په کابل کی تیر کړی دی دحرمینو شر یفینو زیارت ئی کړی دی ، دی ډیر دیندار اوپرهیز ګاراومهابان‌وو ،دهاکثره په‌دغه‌خیلو بیتوعمل‌کاوه :

نان جوین و خرقه پشمین وآب شور
سی پاره کلام و حدیث پیمبری
بایکد وآشنا که نیر زد به نیم جو
در پیش چشم وهمت شان ملك‌سنجری
این آن‌سعادت‌است که حسرت بروخورد
جویای ملك قیصر و جام سکندری

ترڅلویښت کاله عمر ورو سته چه‌د کعبې شریفی دحج‌څخه راغی یوازی توب ئی غوره کړ ، دی د شیخ نور الدین دشا ګردانو اوارادتمندانو څخه‌دی، دی‌په۹۷۵ هجری‌قمری‌کال کی وفات او اخرت ته‌ولاړ داقطعه هم دده ده :

خواهم که به‌آن‌تازگی گل ازروی نصیحت
گو یند که باهر خس و خاری نه نشیند
اما بطر یقیکه زما خاك نشینان
بر خاطر او هیچ غباری نه نشیند

عشقی : دبهار افغانی خاوند دی کابلی ګڼی ، دروزروشن به‌حواله لیکی چه‌د قدرة الاولیا شیخ اسمعیل تاش پیر اومرشد اتراك داولادی څخه‌و په تواضع اوپر زهیرو زرو اوپرخوارانو باندی به‌مهربانی کی‌ئې‌ساری، نه‌درلود داکبر پاچا له‌خوادمیر بخشګیری په‌رتبه سرلوړی‌شو . دحکیم سنایی دحدیقی پروزن ئی یودیوان چه‌دنظم په‌اقسامو اومثنوی باندی مشتمل‌دی پرې اینبی ، اوپه۹۹۰کال ئې ددنیاڅخه کیده وکړه ، په بهارافغانی کی دا اشعار دده په نامه ثبت‌دی :

مطلع

عکس چشم‌برخمارت‌درشراب افتاده است
همچو مستی گزسرمستی در آب‌افتاده‌است

☆ ☆ ☆

زاستغنا گهی‌چشمت‌سوی این‌ناتوان افتد
مبادا عاشق مسکین زچشم دلستان افتد
اگر ازجام‌لعلت گفتگوئی درمیان افتد
مراهمچون صراحی آتش غیرت‌بجان‌افتد
بهرمجلس که‌می‌نوشددلم‌ازغصه‌خون‌آید
خورد باغیراگر آبی مراآتش بجان‌افتد

حنفی : ده په‌کابلی پیروژې (فیروزهٔ کابلی) سره شهرت درلود ، دده دڅینو غزلو په مقطع کی دحنفی تخلص‌یادشوی‌دی دبابر باچا دزوی دهمایون په‌وخت کی‌ئې په‌کابل کی‌ژوندون کاوه . ده‌دتنبور په‌وهلو کی‌ښه‌مهارت‌درلود ، سکیتة‌الفضلالیکی چه‌دی په کابل کی‌ډیر ولوړ مرتبو ته‌ورسیدی ، اوډیر متقی او پرهیز ګاره وو، په‌شعر کی ئی‌ښه سلیقه اوطبع درلوده ، دده لاندی غزل چه‌دحنفی په تخلص ښایسته‌دی‌ولولی :

غیر منظور ساختهٔ یعنی چه . . .
بنده را از نظر انداختهٔ یعنی چه

کس ندیدم بدور تو بدین حسن وجمال
قیمت حسن بر ا ند ا ختهٔ یعنی چه
پرده برداشتهٔ ای‌مه خورشید مثال
عالمی وا لهٔ خود سا ختهٔ یعنی چه
بهرتشریف‌قدومش «حنفی»ازدل‌وجان
خانهٔ د یده نپر د ا خـتهٔ یعنی چه

دفیروز دتخلص مطلع :

گرفتم کز نظرانداخت ای‌فیروزه آن بدخوی
زچشم شوخ اوقطع نظر کردن توان نتوان

وا صلی : دلسم قرن دشعراؤ څخه یوتـن وا صلی کابلی ، دی یوعارف اومجذوب‌سړی‌ؤ ، دار اومحتاجانواولویدلوو ګړیو دلاس نیوی‌ئی کاوه ، وفات ئی‌په ۹٦۸ کال ،اودتاریخ ماده‌ئې (ازین‌جهان رخت بربست ) ګـنهل کیږی : دا مطلع دده دطبع څخه ده :

زدل پیکان زنگ آلود آن‌مهوش بیرون آید
بسان شعلهٔ سبزی کـه از آتـش بر ون آید

یوسف : دسکینةالفضلاء ساوند لیکی چه‌محمد یوسف‌بیګ دکابلی شاه‌بیګ خان زوی دی . او دمیرمنشی اشـرف خان تر مهربانه سیوری لاندی‌تربیه‌شوی‌و، دی‌دښی‌سلیقی‌خاوندؤ ،مګر پربرند خوانی په (۹۵۹) هـ کال چه‌د (بستان دولت )ئې‌دتاریخ ماده ده ددی ددنیا څخه تللی د ی ، د غه لاندی اشعار دده په نـامه یاد یږی .

نوش آنکه جای خویش به میخانه ساخت
در پای خـم بسا غـر و پیمانه سا خت
آنکس که داد شیوهٔ مستی بچشم یار
مستم ازا ن دو نر گس مستانه ساخت
گـفتم که‌جا بدیدهٔ من گن بناز گـفت
دررهگذار سیل کسی خانه ساخت

مولانا عارف : درستاقی دوبلو لـه‌قراره دی په کابل کی زیږیدلی ،اوخپل اکـثره ژوندئی په‌سمرقند که‌پای‌ته‌رسولی‌دی ښه طبع اوخوږه ژبه‌ئې درلوده ، په‌ظرافت اوحاضر جوابی کی ئې ساری‌ءنه‌درلود ، لـکه‌چـه‌هغه وخت چه‌ده په‌سمرقند کی په سختی سره ژوندون کاوه پخپله وایی :

بهر کس درسمرقندم گذرشد ظرافت در عبارت درج کردم
بیا زارش بهرجانب که گشتم زبی چیزی ظرافت‌خرج کردم

عارف دعبدالله‌خان په‌مدح کی‌قصیده لری ، په غزل‌اودنظم په نورو اقسامو کی هم ماهروو ، لاندنی غزل دده دی:

## غزل

تیغ مامژ ګـانرا زبیرحمی به‌هنګام‌عتاب
مید هد ازبهر قتل ما بزهر چشم‌آب
دمبدم ا شکم برخ افتا ده بهر جستنش
همچ آن‌طفلیکه بر روهردم افتدازشتاب
سوز سینه کم نشدازآب چشمم بی‌رخش
آتش هجران بلی هر گز نمی‌میردزآب
بعد عمری یار می پرسد ز احوال د لم
ازخوشی«عارف»نمی‌دانم‌چه گویم‌درجواب

دائی هم ښه‌مطلع ده :

ازو یك نامه سوی‌من بصد زاری نمی‌آید
و گر آید بغـیر از خط بیـزا ری نمی آید

ګدایی : اصلاً دکـابل دی ، اوپه کابلی ګدایی سره‌معروف‌دی دی وهند ته‌د همایون باچا دخدمت‌دپاره ولاړ ، اودجلال‌الدین اکبر په‌دربار کی ددبیری‌ـ په‌منصب مقررشو پرشعر و یلو هم قادر وو ، دامطلع ئې وګوری‌ـ :

### مطلع

جائیکه مهوشان خم‌ابرو نموده‌اند
مر دم بماه عید مـقید نبو ده‌اند

مولانا ابتری : عبدالحکیم رستاقی اولواجی دچراغ‌انجمن خاوندئی بدخشی ګـنهی وایی‌چه‌دجلال‌الدین‌اکبر دزمانې‌دشعراؤ څخه‌و ، دی هندته تللی اودامراؤ سره‌ئې صحبت‌کاوه، هوخبری ئې دفترحات مکی اوخصوص الحکم یاد کړی وې ، دفرعون په‌ایمان کی‌ئی څیړنه کوله ، له‌همدغه کبله خوش طبیعتوو ګړو دی دفرعون وکـیل باله دغه لاندینی بیتونه دده دی :

### څلور یځه

جان دادم ازجدائی جا نان خو یشتن
چون من‌زجدانماندکس‌ازجان خویشتن
روزم زدرد آه بصد ظلمت شب است
دور از جمال شمع شبستـان خویشتن

بیت

نظـر اهـل صـفـا آسـان نـبود
همه‌تن آئینه گشتیم که منظو ر شدیم

☆ ☆ ☆

جیفهٔ دنیا ندارد پیش مارنگی که‌لعل
میشود مردار سنگ ازدست‌استغنای‌ما

☆ ☆ ☆

میان عالم‌و جاهل همین قدر فرق است
که او کشیده عنـانست این گسسته مهار

داعی کشمی : میرشمس‌الدین چه په « بزرگ میـر» سره معروف ؤ دبدخشان دکشم دبزرگانو څخه ؤ، هلته ز یښیدلی اوهلته لوی شوی‌دی، په‌شعر کی هم ښه وو، داعی‌ئې تخلص ؤ پلارئی میر جلال‌الدین نومیدی، داعی د جفراواکسیر په‌علم کی هم معلومات درلودل، په ۹۹٤کال په کـابل کی مړشو ، اوپه کـابل کی ښخ دی ، په چراغ انجمن کی دادرې بیتو نه دده په نامه ثبت دی :

( څلورېځه )

از ما تمیان مبتلای و طنم وزغمزد گـان کج بیت‌الحزنم
دی‌منزوی‌وادی‌غم‌مجنون‌بود رسوا شدهٔ انجمن امروز منم

فـرد

شکوه حسن‌را کوه از گرانی بر نمیدارد
درین‌فکرم که‌چون‌درخلوت آئینه‌جا کردی

ربیع «گـلبهاری» : اکثره په ربیع کـابلی سره شهرت لری، اصلا دکـابل دشمالی کوهستان د گـلبهار دی ، نوم ئی محمد عالم وو، په‌کابل کی په‌تدریس بوخت ؤ ، بیاهندته ولاړ دجلال‌الدین اکبر دربار ته ورسید، هلته ئی ژوندون و پای ته ورساوه، ربیع په شعر کی ښه مهارت‌درلود، اوښه اشعار لری ، دا اشعار دده په‌نامه په‌تذکرو کی ثبت دی :

(فـرد)

می برد چشمی که میگشتم ازوهر لحظه شاد
غالبا گـاهی ز دیوارش برو خوا هم فتـاد

* * *

گمان آن‌دهان مشکل خیال آن میان مشکل
میـان این و آن مشکل مرا افتا ده مشکلها

* * *

برای کشتن من تیغ کین بکف بر خا ست
بهر کـه یـك نفس از روی مهر ننشستم

غیوری : رستاقی دی کابلی بولی، دهفت اقلیم په حوالـه لیکی چه‌دی په‌ډلپی سر کی دمحمد حکیم میرزا په ملا زمانو کی ؤ، اود حکیم میرزا ترمړنی وروسته هند ته ولاړ، دمحمد جلال‌الدین اکبر باچاترنظرلاندې‌دصدباشی په منصب مقررشو، منګر دېر ژرمړشو ، دابیتونه دده دی :

مطـلع

پنهان بسخن دارم آن غمزهٔ خاموش
هرلحظه بحرفی نه‌زبان محرم‌و نه گوش

څلور یځه

دیریـت د لا جهان پرستی چه شـدی
بسی طرف بمال وچاه بستی چه شدی
ازصحبت خلق روبـه تنها یـی کـن
عمری بجها نیان نشستی چـه شـدی

کمالی : د زیږیدو ځای‌ئې بدخشان دی اوهم هلته تربیـه شوی‌دی ، څوعمر وروسته وهندته‌ولاړ، دمحمد جلال‌الدین‌اکبر په زمانه کی ئی دعلما ؤ اوفضلا ؤ اوامرا ؤ سره د هغه عصر خیل ژوندون تیر کړ، څو عمر بادبیرته خیل وطن ته راغـی، کمالی سمرقندته هم سفر کړی‌دی لاندینی بیتو نه دده د ژبی څخه دی :

کمالی ازخیال خام دائم میپزد سو دا
ولی‌بخشش که‌یادآیدازودلتنگ میماند

چوشد معلوم کیفیت عجب‌نبود اگر گویم
خیالات کمالی با خیال بنـگ می ماند

داقطعه هم دده ده :

بیاد ماه رویی درشب هجر که ازدل‌آه‌حسرت می کشیدم
زمردم می‌شنیدم‌خواب رانام ولی‌هرگز بچشم خود ندیدم

مطلـع

زاشك لاله گونم کوه‌وهامون باغ وبستان است
چو من یك عا شق دیـگر بود عالم گـلستان

مهدی : امیر مهدی‌الحسینی دماثر بلخ د خاوند دویلو لـه قراره دبلخ دسیدانو څخه و، دی یو صوفی سړی او د کبرو په دسلسلې‌پابنده ؤ، دریاضی‌اونجوم‌په‌علم کی ماهر ؤ ، حسن‌خواجه دابیت دده دپاره وایی :

مهدی که درعلوم ریا ضی سرآمد ا ست
نیك است در نجوم ولی هیأ تش بد است

دادی پته پاته نه‌وی چه د «هیأت» لفظ به پورته بیت کی څونه‌چپ راغلی‌دی، مهدی دعبدالله‌خان‌شیبانی دزوی عبدالمؤمن په زمانه ژوند کاوه،دی دروژې په‌میاشت کی دیوه سړی په‌لاس ووژل شو، اودشاه ولایت مآب دمزار په خواکی ښخ‌شو، دافرد چه مرتجلا ویل شوی‌دی دانوری دمعروفی قصیدی په‌تتبع سره ویل شوی دی :

مرغ ز رین جنـاح همت او ازشرف سدره آشیان بـاشد

قلیچ : په مأثر بلخ کی‌ویل شوی‌دی چه محمدخان «قلیچ» دبلخ د «ده شیخ» دمحلې دی ، په وړو کوالـی هندته تللـی، اوهلته‌ئی مروج علوم تحصیل کړی‌دی، او څوعمر ئې تدریس کاوه، بیا دجلال‌الدین اکبر د ملازمانو په مسلك کی داخل‌شو، وروورو «پنج هزاری» ومنصب ته‌ورسیدی ، اودبیرغ اونغارې خاوند شو، دده اور شاهزاده دانیال په نکاح کړه ، له همدی لامله ئی په سلطنتی خاندان کی نژدې‌کت وموند ، رسوخ او اعتبار ئی دبادشاه په نظر کی زیادشو ، سره لەدغه عابد اوبه

طاعت به‌ئې شيې رونړولې ، د غه لاندی بيتو نه دده د افکارو نتيجه ده :

بدل‌داغی که ازهجران آن مه‌داشتم دارم
زبانی کز بيان درد کو ته داشتم دارم
بيا بانها بريدم بر اميد کعبهٔ وصلش
همان افسردگی‌در بخت گمره دا شتم دارم

انسی : نوم ئی مولانا محمدشاه، دی د قندهار دپوهانو اوشاعرانو څخه دی، درياض‌الشعرا خاوند ليکی چه دی د «انسی قندهاری» په لقب مشهور ؤ، دهما يون باچا په زمانه دماوراءالنهر څخه وهندته راغی. دپوهانوله خوائی ښه پذيرائی اوعزت پيدا کی، واله داغستانی دامطلع دده په‌نامه ضبطوی :

سرشکم رفته رفته بيتو درياشد تماشاکن
بيا درکشتی چشمم نشين و سير دريا کن

ليکن شبلی نعمانی دشعرالعجم خاوند په‌خپل دريم جلد کی دابيت د«آتشی قندهاری» گڼی چه دی هم‌داکبر پاچاددربار شاعرانو څخه‌دی . په هرحال انسی دخوش کلا مو شاعرانو څخه دی اشعار ئې دجنگو او دبياض ښايست گرز يدلی دی ، فخری اميری په‌خپل تحفةالحبيب اثر کی دده غزلی ډيری درج کړی‌دی ، لاندينی غزل هم دهغو غزلو څخه دی:

د می کان لعل آ تشناك جـان من نميسو زد
چراغ کـلبهٔ تـار يك من روشـان نميسو زد
به گـلشن هر گـز آن‌سرو خرامان‌در نمی‌آيد
کـه ازگـلزار آ تشناك اوگـلشن نميسوزد
خواص شمع فا نوس است گويی‌عاشق اورا
که ميسو زد ز سر تاپا و پير اهن نميسوزد
شگـاف سينه می دوزم بصد زاری وحيرانم
کـه‌چون از آتش دل‌رشته وسوزن نميسوزد
جهان هرشب هميسوزدزآهم وين‌عجب حالی
کـه‌شمع بخت‌خون‌آلود من روشن نميسوزد
دران مسکن که‌ميسوزدشب هجران او(انسی)
بغير از شمع کس با اودران مسکن‌نميسوزد

انسی لهينو تذکره‌ليکونکود (انيسی) به‌املاهم ليکلی‌دی.

احولی : اصلا دسيستان ؤ ، اوهلته لوی شوی اوتربيه‌شوی دی ، احولی داکبر پاچا په ز مانه کی دهندوخواته ولاړ، څه موده ئی هلته تيره کړه ، ده په شعر گڼی ښه قدرت در لود ، ښه‌اشعارئی وبل د رياض الشعرا خاوند واله داغستانی دااابيات ده‌ته‌منسوبوی او په‌خپله تذکره کی ئی‌درج کړی‌دی :

بيت

نه‌به شهرم دل‌کشايد نه‌به صحرا در غمت
بيتو برمن شهر زندانست وصحرا آتش است

مطلع

بادوچشم تودل ای‌شوخ ستمگر چکند
يك‌مسلمان چودرافتد به دوکافرچکند

فرد

مهر در عهدت چنان کم‌شد که باور ميکنم
گر کسی گويد که‌بايوسف زليخارشمن‌است

بيامی قلندر : دی په‌اصل کی‌دهرات ؤ، د«بيامی قلندر» په لقب‌سره شهرت لری، هو عمرئی په ماوراءالنهر کی ژوندون کاوه، ،واله‌ليکی چه‌بيامی هروی د بابر ميرزا په‌همت اوبرکت سره په‌ماوراءالنهر کی‌دصدارت ورتبې ته‌ورسيدی ، بيامی‌شعر هم‌وايه اوښه طبيعت‌ئی درلود ، داغلوريخه دده ده :

وفا وعده کر دی جفا مينمايی مه من عجب بيو فا مينمايی
چو بيگانگان‌مگذرای‌نوردیده که‌درچشم من آشنامينمايی

تابعی هروی : په‌مولانا معروف اوپه‌لسم قرن کی دهرات دسترو نقاشانو اوکاريگرو څخه‌ؤ په موزيك اوشعر کی ئی‌هم ښه‌لاس درلود ، چه‌ددې جملی څخه‌ئی نل (نی) په‌ډېر مهارت سره‌واهه ، دا غزل‌دده‌دی :

کار من دور ازتو غير ازناله های زار نيست
گـر بزاری جان دهم درهجر دورازکار نيست
آنکه درعمر خود از نخل قد او بر نخورد
زندگـانی چون کند ازعمر برخوردار نيست
دولتی باشد کـه بکشايد زخواب ناز چشم
ای در يغا ديده های بخت من بيدار نيست
عشق مر دم ديدن يار است بی غير و مرا
هيچ عيشی خو شتر از نادیدن اغيـار نيست
يار بود او را بمای «تابعی» صد روی دل
از چه‌رو امسال بامـا يار همچون يارنيست

دعوی : اصلا د خراسان د رستاق او دشاه اسمعيل صفوی معاصروو، ښه اشعار ئی وبل ،په‌رياض‌الشعرا کی دارباعی دده به‌نامه سره ليکلی شوې ده .

رباعی

هردم از نا حق خراشم سينهٔ افگـار را
تا زدل بيرون کنم غير خيـال يـار را
نيست آن‌شبنم‌بروی برگ گل‌دورازرخت
آب چشمم نمی نشاند آتش گـلزار را

علی‌اکبر بدخشی : مير زا علی اکبر بدخشی دهغو شعراؤ څخه‌دی چه‌وهند ته‌ئی‌سفر کړی اوداکبر وخدمت‌ته‌ورسيدی، ده دجلال الدين په ملازمت څوعمرتير کړ دده دکورنی‌مداحی

به ئی کـوله ،بنه اشعار لری ، په ریاض الشعراء کی دغه لاندینی دوی غلوریخی دده په نامه لیکلی شوی دی :

غلور یخه

شا هزاده سلیم تا بکف تیغ گر فت
از خون عدو روی هوا میغ گـرفت
از بیشه گـر یخت شیر در دامن کوه
در کـوه پلنگ هم سر تیغ گرفت

☆ ☆ ☆

گـرمونس وهمدمی دمی داشتمی زوچارهٔ مرهمی همی داشتمی
در آتش غم سوختی سر تا پا دردیده اگـر نمی نمی داشتمی

خواجه ابوالبر کـه فراهی : ریاض الشعرا لیکی چه دی په فراه کی زیږیدلی دی ، د همایون باچا په خدمت کی وو ، دغه رباعی او مطلع دده دی :

مطـلع

خون دل میخو رم از بستهٔ شکر شکنش
کـه چرا بسته نهاد است د هن بردهنش

غلور یخه

هرچند که شهره گـشته بد نامی من
زاندازه گـشته بی سر انجامی من
پنهان کنم از رقیب حال دل خویش
تر سم کـه شود شادز ناکامی من

فارغی: اصلا دهرات ؤ ، اوهم هلته لوی شوی او تربیه شوی دی ، په شعر کـښی لاس لری ده په لسم قرن کی ژوندکاوه ، واله داغستانی دارباعی دده په نامه ضبطه کړی ده :

غلور یخه

عشق تو دیگر عربده باجان کـه دارد
دست ستمت بـاز گـریبان کـه دارد
گـریار نشد فارغی از حال تو آگه
او آگهی از حال پریشان که دارد

د فارغی شعرونه او غزلونه د فخری په تحفة الحبیب کښی هم راغلی دی چه دډیخبری نه دا راووزی چه فارغی به هجری لسمه پیړۍ کښی ژوندی ؤ ،داغزل دهغه ځای نه غوره شوی دی :

غزل

مفلس مگو به عشق خودای سیمبر مرا
بنگر ز سیم اشك رخ هم چو زر مرا
درد و غمست مایهٔ عاشق هزار شکر
کین مـایه هست ازهمه کس بیشترمرا
چون مرد مان دیده بچشمم قرار گیر
تا کی شوی چواشك روان از نظرمرا
بر گردنم ز تیغ توصد گونه منت است
کو وارهانده است ز صد درد سر مرا
عمرست کوته وشب هجران عجب دراز
امشب عجب کـه روی نمـایدسحرمرا
چشمی که هردمش بوصال تودل دهم
در دا که ساخته غرقه بخون جگرمرا
زاهل کرم کسی بهری نیست فارغی
برخیز وره نمای براه د گـرمرا

ملاحسین : دطبقات اکبری په دو هم جلد کښی راغلی دی چه دی په اصل کښی دوزیر زوی دی . علمونه ئی لوستی او دلوړ ادراك او پوهی په واسطه دخپلو همزولو نه ئی امتیاز درلود ډېر کلونه دهمایون باچا په خدمت کښی ؤ او ورته ډېر نژدی ملاحسین داسی یوشاعردی چه په ادبی فنونو کښې ئی پوره لاس درلود ، په تېره بیا د مصنعو اشعارواو قصائدو په جوړولو کښی ئی ساری ډېر لږؤ . ملا حسین ډېرو خلکو هراتی بللی دی. د گلستان مسرت خاوندلیکی: (یوه قصیده چه دغازی اکبر باچا دجلوس په نېټه شامله ده دهراتی خواجه حسین ده چه په لومړنیو مصرعو څخه ۹۶۳ دجلوس نېټه اوله دوهمو مصرعو څخه ۹۷۷ دشهزاده سلیم یعنی نورالدین محمد جهانگیر بادشاه دزیږیدنی نېټه را ووزی ).

داقصیده چه (۲۱) بیتونه لری په گلستان مسرت کښی لیکل شوی ده چه مونږ ئی خوښته د نمونی دپاره لیکو :

لله الحمد از بی جاه وجلال شهریار
گوهر مجد از محیط عدل آمد در کنار
طائری از آشیان جاه جود آمد فرود
کـوکبی ازاوج عزوناز گـردید آشکار
گـلبنی اینگو نه ننمو د ند بر دور چمن
لالهٔ زینگو نه نکشود از میـان لاله زار
شادشد دلها کـه باز از آسمان عدل وداد
بـاز دنیا ز نده شد کـز مهر ایام بهـار
شاه اقـلیم و فـا سلطا ن ایو ان صفا
شمـع جمـع بیـدلان کام دل امید وار
عـادل کامل محمد اکبر صاحبقران
پاد شاه نامدارو کامجوی و کامگار

ملاحسین د عمر په پای کښی د اکبر له دربار ه رخصت واخست او وطن ته راغی خو مخکښی درسېدو نه په کابل کښی مړشو دا رباعی هم دده ده :

رباعی

آنم که ممالك سخن ملك منست
صر اف خرد صیر فی ملك منست

دیبا چهٔ کن ز دفتر من و رقیست
اسرار دو کون بر سر کلك منست

بیکسی : اصلا دغزنی‌دی، دافغانستان دهجری لسمی پیړی‌ـ له‌شاعرانو څخه‌دی . دشمع‌انجمن لیکونکی لیکی :چه د ډیرو فضائلو او راز کمالاتو خاوندؤ . دحرمین شریفین زیارت‌ته رسیدلی‌دی ،هند ته‌ولاړ اودحدیث‌علم‌ئی ولوست اودعمرارزښت له‌املە وطن‌خواته ئی‌مخه‌وکړه ،به۹۷۳ کال کښی په‌پیشور کښی مړشو دادوه بیتونه دده په‌نامه دی :

مطلع

در دیرو کعبه جز بتو مایل نبوده ام
هرجا که بوده ام ز توغافل نبوده ام

و لـه

فلك را رسم بی‌مهری نه‌دردوران مـابوده
که‌دوران فلك تابوده بی‌مهرو وفا بوده

دغزنوی بیکسی داغزل د فخری امیری له ردایف الاشعار نه‌اقتباس شو :

غزل

تاچو گل خیمه بدشت‌آن گل رعنازده است
جا نم از کشور تن خیمه بصحرا زده است
گـر بزلف، تو دلم دسـت تمنـا زده است
عجبی نیست کـه دیوانه و سودا زده است
دامـن شاهد گـل بهر چه شد خون آلود
مـگر ش خـار تمنـای تو در پـا زده است
هرنسیمی کـه گـذر کـرد ازان‌حلقهٔ زلف
دم ز مشك ختن و عنبر سـارا زده است
نیست دیرا نجمن چرخ بر ین مشعل مهر
آه من شعله برین طـارم خضرا زده اسـت
کـوهکن از مژه هردانهٔ اشکی که فشا ند
خـار حسرت شده سر از دل خـارا زده است
بیکسی دا ده فلك سا غر عشرت همه را
سنگـ بیداد همین بر قدح ما زده است

میرمحمد خان : اصلا دغزنی دی‌اوپه غزنوی میر محمدخان سره مشهوردی . په‌چراغ انجمن کښی راغلی‌دی چه‌میرمحمدخان دقدر او مرتبې په لوړ والی مشهوردی . مجلس ئی هیڅکله له فضلاؤ اوشعراؤ څخه نه خالی کیده سره‌ددی چه‌په‌ملکی کارونو باندی بوخت ؤ بیائی هم کله‌کله شعرونه ویل . اکبر بادشاه‌ته به ئې ویل :

ستادزمانې دا افتخار دی چه ماغو ندې سړی پکښی دی . لوی دیوان‌ئی لیکلی‌دی . دی‌وائی :

در جوانی حاصل عمرم بنادانی گذشت
آنچه باقی‌بود آنهم در پشیمانی گذشت
ای‌جوان جز تخم‌نومیدی نکشتی‌درجهان
موسم پیری‌رسید ووقت دهقانی گذشت

قمبری‌ابیوردی: دخراسان‌له‌ابیورد څخه‌ؤ ، دعبدالمومن‌خان په‌خدمت کښی‌ئی ژوندکاوه ، دامطلع دهغه گـنله کیښی :

مطلع

ناخن ز غم بسینه زدن‌پیشهٔ من‌است
فرهاد کوه‌عشقم واین تیشهٔ‌من‌است

سید عبدالقادر هراتی : دلسمی پیړی‌ـ د اواخرو له‌شعراءو څخه‌دی ، په‌هرات کښې زېږ پدلی دی اودتاریخ جوړولو په‌فن کښې ئی مهارت درلود.دسلطان حسین میرزا دمدرسې په‌تاریخ کښی‌ئی داقطعه‌جوړه کړې ده :

قطعه

این عمارت که خیره گشت ازو — چشم صورتگران چین‌وختا
اسم بانـی وسال تـاریخـش — شاه سلطان حسین بایقـرا
(۹۸۸)

صالحی هراتی : داکبر د زمانی له شاعـرانو څخه‌دی اوپه خوش نویسی‌ـ اودبیری‌ـ کښی ئی پوره مهـارت درلود په قافیه سنجان آئین اکبری کښی‌راغلی دی چه‌هراتی صالحی سربیره‌پر نظم لیکلو په‌علمی مهارت کښی‌ئې رسافکر اوپه‌خط کښی‌لوی لاس‌درلود . په‌شاهی منشیانو کښې داخل ؤ دصالحی نوم محمد میرك ؤاوخپل‌نسبت‌طوسی نظام الملك ته‌رسوی . شعرونه‌ئی ښه راغلی‌دی. په‌تذکرو کښې‌داهو بیتونه دده په نوم‌دی :

بیت

عاشقی مایهٔ درداست چه‌هجران وچه‌وصل
خسرو از عشق جدا نالد و فر هـاد جدا
اسباب هلاك این همه وزنده ام ای هجر
شرمندهٔ خود کـرد مدا رای تو مـارا

وله

مرا گویندبی‌دردان بزن دستی بدامانش
مرادستی‌اگربودی گریبان پاره‌میکردم

مطلع

درد دل گـفتم تغافل کرد خواری رابیین
گریه کردم خنده زد بی اعتباری رابیین

فرد

بدست اوست مرگم‌صالحی خاطرنشانم شد
که شاهین‌اجل‌هم مرغ دست‌اموز اوبودست

فکری : نوم ئی سیدمحمد اود هـرات دښار دی ، په کالی (تکر) اوبدونکی سید محمد باندې مشهورؤ ، کـه څه هم

دریاض‌الشعراء خاوندئی تربتی بولی‌خوددې‌لاملهچه‌دآئین‌اکبری لیکونکی، ابو الفضل علائی چه‌دفکری معاصر ؤ دی هراتی بللی دی نوځکه‌ئی هرات ته‌نسبت ښه‌موثوق‌دی ، هرنګه چه‌فکری‌د «رباعی» جوړولو سره خاصه علاقه لرله او اکثر شعرونه ئی رباعی‌دی نوځکه په(میر رباعی) باندې مشهورؤ . دی‌له‌پیاوړو شاعرانو څخه‌دی‌اوپه‌زړه پوری شعرونه لری . دجلال‌الدین‌اکبر دپاچهی‌ر په‌وخت کښې هندته ولاړ اوددغه پادشاه په‌مدح کښې ئی شعرونه درلودل. په۹۷۳کال کښې مړشو . دامصرع‌ئی‌دوفات تار یخ دی ( گفتا خرد که‌میر رباعی سفر نمود ) لاندینی رباعی گانې دده له‌اشعارو څخه‌دی :

رباعی

آنروز که آتش محبت افر و خت
عاشق روش سوززمعشوق آموخت
از جانب دوست‌سرزداین‌سوزوگداز
تا در نگرفت شمع پروانه نسوخت

وله

کردیم ببزم دیده چون شمع مقام
بر دیم بسر عمر در ا ند یشهٔ خام
چون شمع تمام گشت می‌میرد و ما
افسوس که مردیم و نگشتیم تمام

وله

جانم بلب از لعل خمو ش تورسید
وز لعل خموش‌باده نوش تو رسید
گوش تو شنیده‌ام که دردی دارد
درد دل من مگر بگوش تورسید

میلی هراتی : نوم ئی مرزا قل بیګ اوپه خټه ترک‌دی‌نوځکه په‌میلی ترک باندی‌مشهورشوی‌دی . په‌قافیه سنجان آئین‌اکبری کښې راغلی‌دی چه‌میلی هراتی په مشهد کښې لوی شوی‌دی‌اوپه هندوستان کښې ئی دنورنګ‌خان سره‌ژوند کاوه دا کبرملازمت ئی هم کړی‌دی اوپه ۹۸۳ کښې‌په‌مالوه کښې مړشوی‌دی‌هډو کی ئی مشهد ته‌ورسول شول . دی ددیوان خاوندی . دشعر طرز اوسلیقه‌ئی ښه‌ده . لاندینی بیتونه دده دقریحی نمایندګی کوی:

در فراقت زان نمی میرم که نا ید در دلت
کاین ستم نادیده روزی چندباهجران نساخت

☆ ☆ ☆

با آنکه‌به پرسیدن ماآمده مردیم
کا یا زکه پرسیده رهٔ خانهٔ مارا
باغیر نشینی وفرستی زپی‌ما آنرا که نداند رهٔ کاشانهٔ مارا

☆ ☆ ☆

شدم تاشهره درعشت گریزم هر که را بینم
که میترسم بتقریب من‌آئی درخیال او

☆ ☆ ☆

زود تسلیم مکن جان بخد نگش میلی
دست وپائی‌زنو از عمردمی لذت گیر

شاه طاهر : دا خوند میر دهجری نهمی پیړۍ مشهور مؤرخ اودحبیب السیر لیکونکی له‌اولادې څخه دی ، لومړی په‌کاشان کښې ؤ او بیادهند خواته تللی‌دی دخیل علمیت اومعرفت‌لاملهئی ترقی کړی ده ، وفات‌ئی دلسمی پیړۍ په‌نیمائی کښې اوپه‌یو روایت په۹۵۲ کال کښې دی . دادده دیوې قصیدې مطلع ده :

شاهد مهر چو آید به‌شبستان حمل
لاله‌فانوس برافروزدونرگس‌مشعل

میر الهی بدخشی : دبدخشان دلسمې‌پیړۍ له‌شاعرانوځخه دی . هزاله طبع ئې لرله . کوم‌وخت‌چه‌د ندیم‌بیګ امیری‌له‌خوا نه مولانا خرابی د کولابې په قضا مقرر شو نو میرالهی په‌دغه مناسبت داقطعه جوړه کړه :

قطعه

غلچه چو بگرفت جهان‌راتمام نغمه سرائی بر بابی ر سید
ملك‌چو در دست ندیم اوفتاد کار شریعت بخر ابی رسید

مولانا بابای بلخی : هم‌دلسمې پیړۍ له‌شاعرانو څخه‌دی. دمذکر احباب خاوند لیکی چه‌ښه طبع اومرغوب شعرونه لری. دامطلع ئې ډیره ښه‌ده .

مژ گان تودود ازدل بردرد برا ورد
تیرت زتن خاکی من گرد بر آورد

واصفی : د«نمونهٔ ادبیات تاجیك » د کتاب په استناد اصلاً هراتی‌دی اوپه هرات کښې روزل شوی او لوی شوی‌دی . یو کتاب ئی د(بدیع الوقائع) په‌نوم لیکلی‌دی ، واصفی د صفوی شاه اسماعیل‌معاصرؤ ، دشیعه اوسنې په‌فتنه کښې‌ماوراء النهرته ولاړ اوتر۹۴۰هجری‌قمری پورې واقعات‌ئی پخیل کتاب کښې ولیکل . معلو میږی چه‌دهجری دلسمی پیړۍ په دوهمه نیمائی کښې مړشوی‌دی. واصفی نه‌یوازی په‌تاریخ اونویسندګۍ کی مهارت درلود بلکه په‌شعر کښې‌هم مقتدرؤ مخصوصاً په‌مشکلو صنایعو کښې‌ئی خیل مهارت ښودلی‌دی او ډیره توجه ئی ورته درلوده . دده په‌لاندنی غزل کښې به هربیت کښې‌د(آب‌اوتیغ) دلفظ التزام شوی‌دی .

غزل

مضطرب گردم چو گیرد در گلو یم تیغ‌یار
در گلوی هر که گیرد آب گردد بیقرار
در میان تیغ خوبان دست وپائی میزنم
آشنا باید که‌زین گردابم آرد بر کنار

بگذ رد از استخو انهای تنم تیغش چو نیست
مـانع آب‌تیز را خاشاك وخس اند ر کـنار
تیغ توچون از سرم بگذ شت جان دادم روان
آب چون بگذشت ازسر غیر مردن نیست کار
چون نیا مد بر سرم تیغ تو جسمم خشك شد
آب چون ناید ز مانی خشك گـردد جو بیار
واصـفـی تیـغ تـرا مـی‌بیند ومحروم ازان
میکند در آب از حسرت نظر چون روزه‌دار

دمذکر احباب لیکونکی‌دده ډېر مصنع شعرونه یادکړی‌دی چه‌داختصار په‌غرض ترپنه تیر پېژو: مدفن‌ئی تاشکند ښودلی‌دی.

امیر مسیب : په‌بدخشان کښې زېږېدلی‌دی اودهغه ځـای‌له ساداتو څخه‌دی . دمعنوی کمال اوجمال‌خاونددی اوپه‌شعر کښی کښې‌ئی هم مهارت‌درلود . امیرمسیب دلسمی پېړۍ له‌شاعرانو څخه دی ځکه چه‌د تحفهٔ سامی په‌تذکره کښی چه د نهمی پېړۍ نه‌وروسته تر (۹۵۷) پورې دشاعرانوشرح حال بکښې‌راغلی‌د دده ذکر شوی‌دی ، دامطلع دده ده :

هر گه رسم بخاك‌درمرتضی‌علی جان‌را کـنم‌فدا به‌سرمرتضی‌علی

غوریانی : نوم ئی حافظ علی اودهرات دغوریانو څخه‌دی. پلارئی نورالدین محمد غوریانی مشهور دی . د ( صورتگران وخوشنویسان هرات) په کتاب کښی لیکلی‌دی چه‌د بیانو ، عروضو اودشعر په‌صنائعو کښی دده تعلیمات‌ډېر لوړ دالوی سړی چه‌په خطاطیۍ اوخوشنویسۍ کښی شهرت‌لری نه یوازی ښه‌خط ئی درلودبلـکه تذهیب اوشعرئی هم کمال ته رسولی وُ په‌شعر کښی‌ئی دسلمان ساوجی دقصائدو پیروی کوله، غوریانی ډېر اوزد عمر تېر کړ ی دی‌اوتقریبا سلو کالو پورې‌ژوندی‌وُ څکه دده دزېږېدو نېټه د (۸۷۰) په شاوخوا کښې اود وفات نېټه‌ئی د(۹۳۰) په‌شاوخوا کښې ټاکل شـوې‌ده . دادده د یوې قصیدې مطلع ده چه‌د سلمان‌ساوجی په‌پیروی کښی‌ئی لیکلی‌ده :

حریم‌حرمت کوی توجنت‌ابرار شمیم نکهت بوی‌توراحت‌احرار

میرزا کافی : چه څینو کا نی بللی دی د هرات له خلـکو څخه‌دی اوهملته روزل‌شوی‌اولوی شوی‌دی . کـافی دیوې داسې کورنۍ څخه‌دی چه‌تل ئې‌دحکومت اوسلطنت په کارونو کښی لاس درلود. لکه چه‌پلارئی دبدیع الزمان په زمانه کښی‌وزیروُ په‌ادبی علاؤمو کښې‌ئې مهارت درلوداوپه خوشنویسۍ کښی ډېر مشهورُ . ژوندئی اکثراً له‌صفوی امیرانو اوشهزادگـانوسره تېر شوی‌دی . لـکه چه سام صفوی میرزا دتحفهٔ سامی‌لیکونکی لیکی چه‌یوه ورځ له‌میرزا کـافی سره دهرات د مرا د باغ ته دچکر په‌صورت ولاړو . په‌یوه کوته کښې چه په بیت العشرت بـا ندې‌مشهوره‌ده وخندیدو. ده‌لاندینۍ مطلع‌اوو باعی‌فی‌البدیهه جوړه کړه اود کوتې په‌دیوان‌ئی و ځړوله .

رباعی

در دا که گـل امیدم از با غ مراد
هر گز بمراد دل غمگین نـکشـاد
اه وس زهجـر یارجانی افسوس
فـریاد زدست نا مـرادی فریـاد

کافی‌دعمر په‌آخره کښی په‌عسکری کښی شامل شو او په یوه جگړه کښی چه دعبیدخان شیبانی اوشاه طهما سب صفوی په منځ کـښې پیښه شوه په۹۳۲کال کـښی دحبیب‌الله خان نومی په کور کښی دترکانو په‌لاس ووژل‌شو . لاندینی بیتونه‌هم‌دده‌دی :

مطلع

مشکل حکایتی است که گـفتن نمی‌توان
وین مشکل دگر کـه نهفتن نمی توان

فر د

بیش واعظ منشین قصهٔ واعظ مشنو
قدبرافراز که کو ته شود آن افسانه

رباعی

آمد بر من قاصدآن سر و سمـن
آورد بهـی تا نبود د ست تهـی
من هم رخ زرد خود بدان مالیدم
یعنی زمـرض نـهاده ر و به بهی

سلطان‌علی‌خطاط او به‌وال : دهجری قمری لسمی پېړۍ له‌خطاطانوڅخه‌دی دهرات په‌اوبه کښی زېږېدلی‌دی اوښه‌خط ئی لیکه . خونستعلیق‌ئی ډېرجذاب اوښکلی وُ په شعر اوشاعرۍ کښی هم ماهر استاذ وُ سلطان‌علی په خط کښې دومره قدرت درلود چه‌مشهدی سلطان‌علی‌ته‌ئی د اعتراض په صورت‌لیکلی‌دی:

گرچه آن سلطان‌علی‌ازمشهد است
لیك این‌سلطان علی ازاوبه است

ډېر په زړه پوری شعرونه او خوا ږه بیتونه‌ئی درلودل دنمونی په‌صورت لاندینۍ مطلع او رباعی‌ئی وگوری !

مطلع

بیستون را گر کـند سیل فنابنیاد سست
کی تواندنقش شیر ین ازدل فرهادشست

رباعی

لعلیست لبت که به زیاقوت تراست
درجی‌است‌دهانت که‌لبالب گهراست
برماه‌رخت‌نه‌یك هلال ازابرواست
هرموی ز ابرویت هلال دگراست

سلطان‌علی او به‌وال یوسل و نه کاله ژوندی تیر کړی دی اود(۹۷٤) په‌شاوخوا کښی مړشوی‌دی .

مولانا میرمحمود بیهقی: د خواجه حسن نثاری د مذکراحباب دلیکونکی‌معاصردی . دخواجه‌حسن‌په‌قول میرمحمود په‌موسیقی‌ر کښې‌مهارت درلود اودغه‌خواجه ده‌سره درس لوستی دی . هم دارنګه‌ئی په‌شعر کښې هم‌ښه‌لاس درلود . په بلخ کښې مړ شوی دی اوخواجه‌حسن دده په باره کښی دابیت ویلی دی :

چواول نام اومحمود کردی الهی‌عاقبت محمود گردان

دامطلع ئی ډېره ښه ده :

مطلع

ای خوش آندم که شوم خاك در میخانه
تا زخاکم بسکند چرخ فلك پیمانه

زلامی: په‌هرات کښی ژېږپدلی‌دی اوبه۹۳۱ه کښی همدلته مړشوی‌دی . دشعر او شاعری‌ر په‌فن کښې ئی دخپلو همزولونه میدان‌وړی‌ؤ.اودبکرومعانیوپه‌ایراد کښی‌ئې‌فکرقوی‌ؤدلوړ همت اومتانت‌خاوندؤ لکه‌چه‌دده دیوې اشنکائیې قصیدې نه ښکاره‌ده لکه چه وائی :

بکرفکرم‌ناید ازبی کاغذی بیرون بروز
همچو ابکار بنات النعش از بی چادری

شعرفضل وشاعرآمد فاضل اما چون طمع
لازم شعراست بیزارم زشعر و شاعری

دادوه‌بیتونه هم دده دی :

چشمی که بود لایق دیدار ندارم
دارم گله از چشم‌خود ازیار ندارم

و له

نخواهی کرد باور خار خار سینهٔ چاکم
مگرروزی که گیرد دامنت خارسرخاکم

وصفی: دسام‌میرزا له‌معاصرینو څخه‌ؤ اودهرات دی دامطلع وده ته‌منسوبه‌ده :

مطلع

خوبان شهر فتنه‌و آشوب میکنند
کاریکه میکنند همه خوب میکنند

ملاعلی‌خراس : دلسمی‌پېړی له شاعرانو څخه‌دی‌اودتحفهٔ سامی دلیکونکی په قول دهرات دی دفصحاء و او بلغاءو څخه‌دی . اود هرات دشاعرانو څخه‌دی . دا رباعی دده ده :

رباعی

تا آتش عشقت بدل افروخته ام
چون شمع همه سوختن آموخته‌ام

باآنکه دلی چو سنگ و آهن داری
میکن حذر از دود دل سوخته ام

شاه حسین : سام میرزا لیکی چه داوبه دی دلخوانی‌ر په‌ابتداء کښی د نفسانی فضائلو په تحصیل موفق شو . د غزل او معما په لیکلو دنورو فضلاءو نه مخکښی شو د « شاهی » په نوم دغه معما دده ده :

زیدو زاهد را نشانـدی ای صنم
عاقبت از شیوه هـا بـالای هم

دا مطلع هم دده ده :

کسیکه اوسر د ستار یـار من بیند
دگر بباغ چرا دسته سمن بیند

غلام یا کی : په‌لسمه پېړی‌ر کښی د هرات له شاعرانو څخه‌دی، هلته ئی سرونه خربل اوپه‌هغه‌ئی ژوند تېراوه شعر ئی هم وایه اوښه شعرونه ئی‌له‌فکر نه‌وتل ، سام میرزا دده دارباعی یادوی:

تیغ اجل اندم که علم خواهد شد
این جسم چوموی ماقلم خواهدشد

گر جرم و گناه ما بیاکی ببری
از کیسهٔ رحمتت چه کم خواهد شد

غزالی هروی : هم د هرات له شاعرانو څخه دی او په چنبك باندې مشهورؤ ، عراق ته‌ولاړ اوهلته‌اوسېده سام میرزا دابیت دده نه لیکی :

مطلع

تادر اقلیم جمالت پـادشا هـی داده‌اند
مهرومه بر خوبی حسنت گواهی داده‌اند

دا مطلع هم وده ته منسوبه ده :

دود آه دل‌من کین همه بر کاله دروست
گرد باده‌یست که‌صدبرگ گل‌ولاله‌دروست

مولانادائمی : په سبزوار کښې ژ ېږ ېـ لی اوبه هرات کښې لوی‌شوی‌دی دسام‌میرزا په‌قول پښؤ . دامطلع دده ده :

مطلع

آنکه دولعل لبش قوت روان منست
حقهٔ یا قـوت او جوهـر جان منست

میر علی خطاط : دهرات د لسمې پېړی‌ر له مشهورو خطاطانو څخه دی . نوم ئی میرسیدعلی دمحمد باقر ذوالکمالین زوی‌دی اودمولانا سلطان علی له‌شاګردانوڅخه‌دی . داسماعیل صفوی اومحمدخان شیبانی دجګړو په‌اثر ۹۲۵ کښی خپل استا ذ سره ماوراءالنهر خواته ولاړ یوځاموده په‌بخارا کښې اوسېده اود وطن دلیرې والی نه‌ئی‌زړه تنګ شو اوداسی شکایت ئی‌وکړ:

عمری‌ازمشق‌دوتا گشت‌قدم‌هم چون‌چنگ
تا که خط من بیچاره بدین قانون شد

دائرة‌المعارف ۲۰۰۰

طالب همه شاهان جهانند و مرا
در بخارا جگر از بهر معیشت خون شد
این بلا برسرم ازحسن خط آمد امروز
وه که خط سلسله پای من مجنون شد
سوخت از غصه درونم چکنم چون سازم
که از ین شهر مرا نیست رهٔ بیرون شد

دمیرعلی دوفات تاریخ ۹۵۱ ـ ۹۵۳ ـ ۹٦٦ لیکلی شوی دی. دمهدی په نوم لاندینی رباعی معما دده ده :

خوش آنکه بعشق مبتلا گر دیده
بیگانه ز خویش وآشنا گردیده
یکبار گی از قید خرد وارسته
در میکده ها بی سروپا گر دیده

لاندینی رباعی هم دده ده :

رباعی

سرحلقهٔ دهرو سرهربی وطنی خاقان دلاوری و خضرزمنی
بعدازسخنت نیست بگیتی اکنون مجموعهٔ معناشه دملك سخنی

رفیقی هروی: نوم ئی میرعلی اوپه چپ نویس مجنون باندې مشهورؤ . تخلص ئی رفیقی دی ، دپلار نوم ئی کمال الدین یا جمال الدین محموددی ، دی دلسمې پېړۍ له مشهورو خطاطانو اومذهبانو څخه دی د خپل خط اوخطاطی په بهره کښې وائی :

رباعی

هرکس که بصفحهٔ خطم دیده کشاد
دل برخط دلبران مهوش ننهاد
در عالم خط منم مسلم امروز
استادان را چنین خطی دست نداد

ده په دې فن کښې تالیفات در لودل چه درې رسالې ئی په لاندنیو نومونو مشهوري دی: رسالهٔ خط وسواد ، قواعدخطوط سبعه ، رسم الخط ـ لومړی اودریمه رساله ئی په قلمی صورت دلندن په موزیم کښې شته . مجنون په خط لیکلو کښې اختراعات کړی دی ، چه یوه اختراع ئی په دواړو خواء وخط لیکل یا توامان دی لکه چه پخپله وائی :

توأمان مخترع مجنون است کز قلم چهره کشائی ها کرد
تا شدم مخترع وصو رتکش خطکم صو رتکی پیدا کرد

رفیقی په دواړو ښې اوکین لاسونه ښکلی خط لیکه ، په شعر کښې ئی هم ښه لاس درلود ، دارباعی دده ده :

رباعی

خوش آنکه بعشق مبتلا گر دیده
بیگانه زخویش و آشنا گردیده
یکبار گی از قید خرد وارسته
در میکده ها بی سر وتا گر دیده

رفیقی دخط څرنګوالی په باره کښې یوه مثنوی لیکلی ده ، دا څو بیتونه ددغه مثنوی دی :

بیا ای خامه انشائی رقم کن بنام کاتب لوح و قلم کن
رقم سازهمه اشیا کماهی پدید ار سفیدی وسیاهی
بسی کلك قضایش زوستادی کشاید چشم خوبان عین صادی
زکلك صنعش انشائی رقم کرد رقم برشیوهٔ نون والقلم کرد
دواتی سازد از چرخ مدور کنندم موم سرآن ماه انور
کند ازین دوات سبز مینا ز سرخی شفق شنگرف پیدا
الهی رحم کن برحال مجنون قلم کش برخط عصیان مجنون
غبار نامهای زنگ عصیان ز توقیع رقاعم نسخ گردان

دی په ۹۵۰ هجری قمری کښې مړشو .

محب علی هروی : مولانا محب علی دمولانا رستم علی خطاط زوی دی ، تخلص ئی نائی دی اوپه هرات کښې زېږېدلی دی په بدیهه ګویی اوخطاطی کښې ئی ښه مهارت درلود. محب علی دېره موده مسافرؤ اودخطاطی اوشعرویلو په برکت دشاه اسمعیل صفوی اوطهماسب صفوی دربارته ئی لاروموندله په تېره بیادسام میرزا ندیم او جلیس وګر لحید محب علی په ۹۷۳ هجری قمری کښې مړ شو . لاندینی ابیات دده ګڼل کیږی .

نیست غیر ازبلا مراتب عشق زاول عشق تا نهایت عشق
آه مجنون عشق بیشه کجاست تا برم پیش او شکایت عشق

ملاهاشم قندهاری : دبیرم خان له مصاحبانو څخه ؤ اودهجری په لسمه پېړۍ کښې او سېده دښې قریحی خاوند شاعر ؤ اوښه شعرونه ئی ویل دخزانه عامره لیکو نکی دبد ایونی تاریخ په حواله لیکی چه بیرم دهاشم یوغزل پخپل نوم باندی مشهور کړ او دهغه په عوض ئی شپېته زره تنګی نغدې ورله ورکړې او پوښتنه ئی ترېنه وکړه چه داځنګه دی ؟ هاشم فی البدیهه وویل چه شپېته ابزی دی . بیرم خان خلویښت زره تنګې زیاتی کړې او پوره یولك انعام ئی ورکړ . دلکو تنګو غزل دادی :

من کیستم عنان دل ازدست داده ای
و زدست دل برده غم ازپا فتاده ای
دیوانه وار در کمر کوه گشته ای
بی اختیار سر به بیابان نهاده ای
گاهی چوشمع زاتش دل در گرفته ای
گه در فتیله بادل آتش فتاده ای
بیرم ز فکر اندك و بسیار فارغیم
هرگز نگفته ایم یکی یا زیاده ای

هاشم په ۹٦۹ کال کښې په اګره کښې مړشو .دی داسی وائی:

بجزخاك درت جائی نزیم اشك ازمژگان
بهردر آبروی خویشتن برخاك چون ریزم

لحینی ئی هاشمی قندهاری بولی ،در ریاض الشعراء خاوندهاشمی بللی دی او دادوه بیتونه ئی دهغه په نوم لیکلی دی :

رهزن دل شده خال رخ گـندم گونش
گـو ئیا برده همین دانه زره آدم را
آنچنان بردل من زخم توخوش می آید
کـه نهد برجگر ریش کسی مرهم را

خیالی : اکثرو تـذکره لیکو نکو خیا لی هراتی او لحینو بخاراوال بللی دی . خودریاض العارفین لیکو نکی لیکلی دی : چه خیالی هراتی اوپه ظاهری اومعنوی کمالاتو باندې مشهورؤ مجرد عا شق او موحد سالك ؤ . صوفیانه شعر ونه ئی ډیر وو او دریحانة الادب دلیکونکی په قول دده شعرونه په خراسان اوترکستان کښی مشهور وو . د خیالی له اشعارونه لاند ینی غزل ئی ډیر مشهور دی او په ډیروتذکرو کښی هم راغلی دی بی ددې غزل نه بل شعر ہی نه دی لیدل شوی .دهرات دلسمې ہیرۍ له شا عرانو څخه دی .

غزل

ای تیر غمت را دل عشاق نشا نه
خلقی بتو مشغول وتوغـائب زمیانه
حاجی برۀ کعبه و من طـالب دیدار
اوخانه همی جویدومن صاحب خـانه
گـه معتکف دیرم وگـه ساکن مسجد
یعنی کـه ترا میطلبم خانه بخـانه
چون درهمه جاعکس رخ یارتوان دید
دیوانه نیم من که روم خـانه بخانه
مقصود من از کعبه و بتخانه توئی تو
مقصود توئی کعبه و بتخانه بهانه
هر کس بزبانی صفت حمد تو گوید
نائی بنوای نی و مطرب به ترانه
تقصیر خیا لی به امید کـرم تست
یعنی که گـنه را به ازین نیست بهانه

عینی هروی : دهرات لسمې ہیرۍ له شاعرانو څخه دی.

عینی دهرات په اوبه کښې زېږېدلی دی اوهملته لوی شوی دی . په خطا طی کښی ښه ماهرؤ په تېره بیا نستعلیق ئې ښه لیکه . عینی خپل ډیر وخت د شاعرا نو د دیوانونو په راقلولو کښی تیراوه . پخپله ئی هم شعروایه . لاندنی بیتونه دده دی :

بیت

زهر که یاد درین بزم میکنیم نما ند
پیاله رفت قد ح رفت وجام ومینارفت

مطلع

بسر خویش کسی را مکن چونی دمساز
که تانفس زده ای مید هد برون آواز

وله

هیچ معشوقی وفا باعاشق شیدا نکرد
گل بصدناخن گره از کار بلبل وانکرد.

آتشی : دقندهارؤ اوخ،موده ئی په کـابل کښی تیره کړی ده او بیا دبابر میرزا سره هند ته ولاړ اوخو کلونه ئی هلته تېر کړل دده دحالاتو نورځه معلومات نشته،شبلی نعمانی لاندنی مطلع دهغه په نوم په شعرالعجم کښی راوړې ده :

سرشکم رفته رفته بی تودریاشد تماشا کن
بیا در کشتی چشمم نشین و سیر دریـا کن

شوخی هروی: خواجه حسن نثاری پخپله تذکره کښی لیکی:

چه مولانا شوخی په موچی توب مشهور دی . لحکه چه پلار ئی په هرات کښی پنې خرخولې اودملك په بازار کښی ئی دکان ؤ چه د تو کیانو لخای واودی په تو کو کښی بې جوړې و،او دبلاغت په میدان کښی ئی گـام کیښود او خپل فصاحت ئې ښکاره کـړ. دادړې بیتونه دده له اشعارو څخه دی :

در واقعه دیدیم که شد یـار پر یشان
گشتیم از ین وا قعه بسیـار پر یشان
شب خور ده به اغیار شب وروز چونرگس
از خـانه برون آمده د ستـا ر پریشـان
شوخی در می چند بد ست آر که هستند
خو بان جهـان از پـیء دینـار پریشـان

مقصودهروی : نومئی یو سف شاه دی اوپه تیرگر درویش باندې مشهوردی . په مذکر احباب کښې ئې لیـکلی دی چـه تیرگر ازاد اوبی تعلقه ؤ. له انقطاع اوتجرد سره ئې ژوند کاوه اودشیخ حاجی محمد له مریدانو څخه دی او دتیر گری په کار بوخت ؤ . طبع ئی تو کوته مایله وه،پرو تذکره لیکونکو درویش هراتی بللی دی . مقصود نژدی نوی کاله عمر تېر کړی دی . دا مطلع دده ده :

مطلـع

خوبان هری خوبتر از آب حیاتند
بسیار ربـا ینده وشیرین حرکـاتند

درویش رباعی ډیرې لیکلې اوښې رباعی ئې لیکلـی دی لاندینی رباعی په ریاض الشعراء او مذکر احباب کښی دده په نوم راغلی ده :

ریاض الشعراء
بوی گل و مل نوای مرغان بهار
حاضر همه و تو غایب ای زیبا یار
آنجا که تو غایبی ازین هام چه حظ
وانجا که توحاضری به انهام چه کار

مذکر احباب

درعشق کسی قصاص کر دم خود را
افسانه عام و خاص کر دم خود را
چون ازتو وفا ندیدم ای عمر عزیز
دل سوختم وخلاص کردم خود را
ایدل غم یارو نالهٔ زار خوشست
خون جگرو دیدهٔ خونبار خوشست
غیر ازغم یار هرچه حاصل کردم
حاصل همه هیچست غم یار خوشست

مولانا شیدا بلخی : دلسمی پیړی له شاعرانو څخه دی اودښې طبعې خاوند اولطیفه و یونکی ؤ. په‌عقلی اونقلی‌علومو کښې ئی معلومات در لودل لکه چه دمذکر احباب لیکونکی لیکی چه «مجمع‌الفضائل ؤ، تل دعقلی او نقلی علومو په افاده کښې‌بوخت ؤ. دده دعلومو درس‌اودفقهی اوتفسیر مطالعه‌یی بی ساري ده . یوځه موده مادرسره دنجوم اوهیئت تحصیل و کړ» شیدا اصلا دبلخ ؤ لکه چه پخیل یوبیت کښې چه د تو کی په صورت دگلستان په تتبع کښې لیکلی‌ئی دی وائی :

تفاوت‌همین‌است‌ای‌محرم‌راز  که‌شیداازبلخست‌سعدی زشیراز

شیدا په‌تاریخ جوړولو کښې مهارت درلود لاندنی قطعه ئی دسلطان گستن قرا دعمارت په تاریخ کښې جوړه کړی ده اودهغه له خوانه نمانځل شوی دی :

قطعه

در ارگ قلعهٔ بلخ عالی عمارتی شد
تا اب و خاك باشد بادا بقای منزل
تاریخ ونام‌بانی‌ازمن طلب چوکردند
گفتم به‌اهل دانش (گستن قرای‌عادل)

نجم‌الدین مسعودهروی : په لسمه پیړی کښې دهرات له شاعرانو څخه‌دی‌له‌پخوانی شاه طهماسب‌سره‌معاصرو ښه‌اوښکلی شعرونه ئې جوړول. طبع ئې هجوي ته مایله وه ډېرښه‌شعرونه هم لری. فخری امیری د لطائف نامې لیکونکی اوتحفة‌الحبیب دده یوغزل په ردائف‌الاشعار کښې لیکلی دی چه لاندې ئی لیکو . دانښکلې رباعی هم دده ده :

رباعی

ای زلف تو از ا بجد خوبی جیمی
وز میم عدم د هان تنگت نیمی
اوراق گل‌و لاله بدور رخ تو
افتاده ز کار چون کهن تقویمی

غزل

اشك سرخم که بروی آمده از زاریء دل
کرده بر چهره رقم شرح جگر خواریء دل
کی خلاصی زسر زلف تو یابیم که هست
هرسر موی تو در بند گرفتاریء دل
تن بصد مرحله دور از توازان است که من
پای بر جای بماندم زگران باریء دل
دیده در آتش واب است زخو ناب جگر
خانهٔ سینه خرابست زبیماریء دل
عمر ها شد که چو مسعود براه طلبت
همرهٔ باد صبا یم به طلبگاریء دل

مولانا سرودی‌هراتی: فخری‌امیری‌ئی هراتی گنی . دمذکر احباب لیکونکی لیکی‌چه سرودی دحافظمیرانی زوی دی اوځه موده دعبیدالله‌خان واقعه لیکونکی ؤ اوښه خدمت ئی کاوه کتابی خطونه ئی‌ښه لیکل ښه‌خلق اوخوی‌ئی درلود .دارنگینه مطلع دده ده :

مطلع

درفصل خزان گرچه‌زگل نام ونشان نیست
خوش‌رنگی اوراق‌خزان هم کم‌ازان نیست

هرنگه چه‌دده داشعارونه وخی‌دی دسلیم طبیعت اوښه‌خیال خاوندؤ ښه‌شعرونه‌ئی‌ویل داغزل‌ئی‌دفخری په ردایف الاشعار کښې ثبت‌دی :

( غزل )

گه بریزد باده وگه‌بشکند پیمانه را
در شکست ور یخت دارد محتسب میخانه را
ای نصیحت گر مده پندم نصیحت هم مکن
چون نصیحت د ر نمی گیرد من دیوانه را
آشنایان را ز خود بیگانه خوا هی سا ختن
گر بدین سان آشنای خود کنی بیگانه‌را
خانه‌ام شد آ نچنان از ظلم هجرانت خراب
گوئی آ بادی نبوده هرگز این ویرانه‌را
از سرودی گر ر سد اورا هلاکی دورنیست
زانکه با شد کلفت از دیوانگان فرزانه را

امیر سبزواری : دسبزوار (شین‌ژنه) له نامتو کسانو څخه دی. په‌لسمه پیړی کښې ژوندی ؤ . په‌خط اوشعر کښې‌په‌تیره بیا په‌شعری صنائعو کښې‌ئی پوره قدرت او معلومات درلود . په‌دینی علومو کښې هم‌تکړه ؤ دارباعی‌دده‌ده :

رباعی

گر لایق دولت‌وصال تونیم  یا قابل دیدن جمال‌تو نیم
اما بهمین‌خوشم که‌هرگز نفسی  محروم ز خدمت خیال‌تونیم

☆ ☆ ☆

سلطان‌محمدنور: سلطان‌محمددمولانانورالله هروی‌زوی‌دی. په‌خط اوخوش‌نویسی کښې بی پوره مهارت‌درلودپه شعر کښې‌هم

ښه پياوړی شاعرؤ دده داشعارو څخه پرته له دې مطلع څخه نور څه لاس ته نه دی را غلی .

مطلع

بدوران عقدهٔ زلف ترا خواهم که بکشا یم
ازین سودا شدم دیوانه و زنجیر می خواهم

کاتبی : مولانامحمد بن عبدالله نومید تخلص ئې (کاتبی) ؤ په هرات کښې زېږېدلی اوهم هلته روزل شوی اولوی شوی دی . په لیك پوهه کښې ښه دلیاقت خاوندؤ او په شاعری کښې هم ستر سړی وخوت، دده دالاندی غزل دفخری امیری په «ردایف الاشعار» کښې را غلی دی .

غزل

کوه غم ایدل هم آواز من تنها بس است
پرده پوش سر مجنون دامن صحرا بس است
باز گرد این عقل سر گردان که درراه وفا
عشق وتنهائی وبیزاری رفیق ما بس است
چون سلیمان منت مرغان دیگر میکشم
دربیابان درسرم هم سایهٔ عنقاء بس است
شمع حسنت دیگران را آتش دوزخ مرا
خانهٔ دل تنگ باشد یکچراغ آنجا بس است
همچو نرگس نام زرگر نیست ما را عیب نیست
زانکه ارباب نظر را دیدهٔ بینا بس است
«کاتبی» گرطی شود اوراق مهرومه چه باك
خط اشعار تو نقش گنبد خضرا بس است

فراقی کابلی : دی په کابل کښې ز ېږېدلی او درستم میرزا دربار دخاصانو څخه ؤ د ریاض الشعراء پوقول ، دی په طب ښه باخبره ؤ ، فراقی ښه شعر وایه اوده ښه اشعار شته دی ، ښه رسا طبیعت اوسلیم ذوق ئی لاره ،فخری هروی په ردایف الاشعار کښې دده شو اشعار راوړی دی چه یوئی دادی :

درجهان باز حدیث من بدنام افتاد
وین حکایت چوزبان دردهن عام افتاد
دورم از یار خودو بار خدا را مددی
که دگریار مرا کار به پیغام افتاد
برگ طوبی است که سایه بسر حور افگند
یا قبا در بر آن سرو گل اندام افتاد
دیدرویش دل نالان و بر نفس درماند
بهر گل بلبل سودا زده در دام افتاد
کافر چشم تو تا کشور دین غارت کرد
چه خللها که ز خال تو در اسلام افتاد
گلبن شادی من غنچهٔ غم بار آورد
میوهٔ عیش من ازشاخ طرب خام افتاد
گرفراقی بود ازشوق تونالان چه عجب
زانکه در بزم محبت قدم آشام افتاد

سروش : دی دبلخ دلسمی پیړی دشاعرانو څخه یو تن اود (نویدی) معاصر ؤ، د(مآثر بلخ) لیکونکی، د ملیحای سمرقندی (مذکرالاحباب ) په حواله وائی : چه سروش خیل تعلیمات اوزده کړه په بلخ اوسمرقند کښې بشپړ (تکمیل ) کړی ده، دده لمړنی تخلص، خاکی، ؤ ده دمولانا محمد زاهدی بلخی څخه (لاس نیونه) او طریقت اخیستی دخدای دپاك کلام عالم اوحافظ ؤ، اولیکی چه (سروش) په شاعری کښې لوی اقتدار درلود، ده شپږ مثنوی گانی دآئینه وطوطی، گل وبلبل قاصدو مقصود، ذره وآفتاب، شمع وپروانه ، اودسکندر نامې، ترعنوانو لاندی په جلاجلا بحر تصنیف کړی دی اوهم ئې څینې رسالې په فقهی شریفی کښې تالیف کړی دی ده څلور مکمل دېوانونه چه مشتمل پرقصیده، غزل، قطعه ، رباعی اونور څیزونو وه، درلودل چه اوس زموږ لاس ته نه دی راغلی . دالاندی غزل دده دی :

ماه من عارض نیکوی تو میدانی چیست
شوخ من نازکی خه ی تو میدانی چیست
بردل سوخته صد جورو جفا از تو رسید
سرومن پرچشم و ابروی تومیدانی چیست
دل صددل شده درفکر دهانت نکشد
دهن غنچه خو شگوی تو میدا نی چیست
دل بیچاره «سروشی » بسرزلف تو شد
ماه من هر شکن مو ی تو میدانی چیست

اجری : په بلخ کښې ز ېږېدلی او یو فقیر مشرب آزادی خوښونکی سړی ؤ د دنیا په غمو ئی چندان پروانه لرله . د ریاض الشعراء مصنف لیکی : چه دی داکبرپاچا په زمانه کښې په هند کښې اوسېدو، اما د (مآثر بلخ) لیکو نکی لیکی چه د جهانگیر په دوره کښې هندته راغلی ؤ له هغه املـه چـه ده دپاچاهانو ددربار سره مینه نلرله ددوی مدح اوصفتونه ئې هم نه وېل نوځکه دهند خلقو دی لهو نی بـاله دالاندی فـرد پـه ریاض الشعراء او «روز روشن» کښې دده په نامه راغلی دی :

ننو شت یار نامه بسویم روان نـکرد
قاصد نیافت یـارقم ازمن در یغ کرد

قاضی بصیرسیستانی : د ریاض الشعراء لیکونکی والـهٔ داغستانی لیکی چه دی د قاضی خلیل زوی او د قاضی لاغر (چه دمخه موباد کی) دتره زوی اوهم ئې زوم ؤ په وړ کتوب کښې د کوی (آبله) په وجه پرونده شوی چه په دغه مناسبت (نسبت تضاد) ئې د بصیر تخلص غوره کړی دی دا لاندی دوه بیتو نـه دده آثـار دی :

سر براه عشق ورودر کوی او خواهم نهاد
عاقبت سر درسر این آرزو خواهم نهاد
گر کشم منت بدوراز آنجام می‌خواهم کشید
ورنهم باری بگردن ازسبو خواهم نهاد

ابن یمین شبرغانی : دی دمولانا راکه شبر غانی په نامه یادیدی، تخلص ئې ابن یمین اودافغانستان دصوفی مشرب شاعرانو څخه اودشبرغان داوسپدونکونه یوتن ؤ، ده زیاتره په دینی او عرفانی علومو کښی زیار ایستلی او په‌دې لیاره کښی مولانا عزیزالدین بلخی مرسته ور سره کړی، څو مده ورو سته دماوراءالنهر خواته ولاړ اوهلته ئې د مولانا خوره‌دکاشانی له هغه دتصوف اوطریقت زنخیر تینګ او بشپړ کی او وروسته ددوی له‌وفات نه‌خیل وطن‌ته راغی او ددغه طریقت او تصوف لاره ئې وپالله، په‌نورو علومو کښی ئې هم تحصیل وکی په شعر وادب کښی‌ئی لوړمقام‌درلود، عرفانی اوتصوفی ډېراشعار ئې ویلی دی، دده یودیوان شته چه‌دهغه ځای په خلکو کښی مشهور اودده دادیوان په ډېرو تصوفی نکتو اور مزوړك اوپه یوه سوزناز که عرفانی ذوق ښکلی دی .

دده یوهو غزلی دمآثر بلخ مصنف خیل په‌تذکره کښی راوړی چه موږئې یوغزل اوهو بیتونه دلته اقتباس کړه :

ای زاهد افسرده‌دل اغیار کدام است
عالم همه اغیار بود یار کدام است
مقصود خود ازجمله ظهورات کمال است
گل چیست درآن باغچه وخار کدام است
مستان مـی عشق سـر ازپـای نـدانند
درچیست در آن خانه ودیوار کدام است
غیر ازرخ نیکوی تو ایدوست چه داند
خود دیده کدام آمدو دیدار کدام است
ماعاشق‌و دیـوانه آن عـار ض و زلفیم
ای (ابن‌یمین) روزو شب تار کدام است

بیت

بغیر نور جمالش د گـر نمی بینم
بچشم غرقهٔ دریا جز آب ننمایـد

مطـلع

جان بجانان دادم و جانانه خود را یافتم
درزدم از بهر او درخـانه خود را یـافتم

ابن یمین په (۱۰۰۵هجری) کال‌په‌شبرغان کښی وفات‌شوی اوزیارت ته ئی خاص وعام وراځی .

فخری‌امیری : سلطان محمد فخری‌چه‌پلار ئی امیری‌نومیده دهجری کال دلسمی پېړی دلیکوالو څخه یوتن ؤ فـخری پـه ۹۲۷او۹۲۸ کال کښی دامیرعلی‌شیرنوائی «مجالس‌النفائس‌ئې» دچغتائی ترکی ژبی څخه په خو ځله فارسی ژبه تر جمه کړی اوهغه ئې هم دلځانه ورسره زیات کړی دی ، دی نور آثار هم لری منجمله «تذکرةالنسوان» دی چه ( جواهر العجـائب ) ئی بولی اوهغه ئی په ۹٤۱ او ۹٤۷ کال کښی تا لیف کړی دی اودغه رنګه‌دده دتالیفاتو څخه (روضة السلاطین) دی اودهغـو پاچاهانو او مشرانو په شر ح حا ل کښی لیکل شوی دی هغه پاچاهانو او مشرانو په شر ح حـال‌کښی لیکل‌شوی‌چه‌دوی په شاعری او نـکته سنجی کښی لاس‌لاره بل‌ئې د بوستان خیال، تالیف کـړی چه ځینې‌ئې دده دغـزلیاتو دیوان بولی اوزیاتروبوه منظومه‌بللې‌ده دی یوبل اثـرهم په‌نامه د «تحفة الحبیب» لری په‌دې کـتاب کښی‌ئې‌دمعاصراو پخوانیو شاعرانو هغه آثار اواشعار راغونډ کړی چه ټو له یوه قا فـیه یو وزن اویوردیف لری، «فخری» دااثردخیل ولی نعمت کریم الدین خواجه‌حبیب‌الله «ساوجی» په‌نامه‌لیکلی اوده ته ئې وړانـدی کړی‌دی دده‌متعلق‌دومره څرګنـده‌ده چه‌دی دهرات څخه‌ایران اوهندته تللی‌دهجری‌لسمی‌پېړی په‌پای کښی مړشوی‌دی ، دادی دده یوغزل موده‌دخیل کـتاب تحفةالبحیب‌څخه اقتباس‌اولاندی ئې‌لیکو :

غزل

هر گـهی آن یار را بینم براهی بگذرد
در رهش افتم چنان بیخود که ماهی بگذرد
جان فدای‌آن که‌ناگـاهش به‌بینم‌در گذر
صدجفا بر جانم ازبهر نـگاهی بـگذرد
درگـذرتر کـان‌چشمش‌غارت‌جان ودل‌اند
وای برملـکی که‌زین‌مردم سپاهی‌بگذرد
ازخدنگش حیفم آید بردل پرخون زار
ورنه هر ظلمی بود بر بیگـناهی بگذرد
گـفت‌خاك راه شو تابرتو هردم بگذرم
خاك گردیدم کجاآنهم که‌گـاهی بگذرد
برسرره زردو زارم کی بود کـان‌سروناز
همچو آب زندگـانی برگـیاهی بگذرد
بردرش از ضعف نتوانم بفر یـاد آمدن
آه اگرسلطان بسوی داد خواهی‌بگذرد
روزهجران‌رامگوخواهد گـذشتن ای‌رفیق
نیست ممکن کین چنین روزسیاهی بگذرد
گـفته‌ئی گربگذرم فخری‌بسویت‌چون بود
سوی درویشی برحمت پاد شاهی بگذرد

دفخری‌دشرح حال په پای کښی مودلسمی پېړی دشاعرانو یادونه پای‌ته ورسوله اوس نو دافغانستان دیوولسمی هجـری پېړی‌دشاعراتو په‌احوال پیل کوو :

## دیوولسمې پېړۍ شاعران

منصور هروی: عتاب‌الدین منصور په اصل کښی د هراتو دلسمی پېړۍ د آخر څخه بیا دیوولسمی پېړۍ تر اوله پوری ژوندی ؤ دوالهٔ داغستانې په‌روایت‌دی دوه پلا هند ته تللی او بیرته‌راغلی، خو په‌پای کښی ئې په‌هند کښی د‌پېره غمه‌خیل ځان په‌تر باکو ووایژه ، دی‌څووخته درستم میرزاصفوی سره ؤ داځو بیته په‌ریاض الشعراء کښی دده په نامه ثبت شوی دی .

### غزل

ما بذوق خود بدام دو ستی افتاده ایم
منتی بر صید مرغ ما نباشد دانه را
هر شراری را که بینی آفت صد خرمن است
میتواند سوختن یك شمع صد پروانه را

### رباعی

دیریست که‌لب‌را بفغان ریش نکردیم
بیگانه دلی را بغم خویش نکردیم
مارا به شفیعان نبود کار که هرگز
جرمیکه زعفو تو بود بیش نکردیم

### مطلع

یك لحظه فرود آ به مکانی که ندارم
تا پیشکش آرم بتو جانی که ندارم

امیرمحمد جمیل : دی‌دبدخشان دبهارك‌دی پلار ئی‌ابوتراب نومیده په‌پېرو علمونو کښی ئې معلومات دواودل په تیره په‌فقه کښی د‌پېرښه‌ملاؤ ، ده یو کتاب د(نظم عقائد ) په نامه تألیف کړی‌دی، شاعرهمؤ په (١٠١١ هجری‌کال) کښی وفات‌شوی‌دی دالاندی‌بیتونه ده دبندونصیحت په‌توګه و یلی دی .

ای راه رو طریق اسلام
دانسته در ین طریق نه گام
کاین بادیه‌ایست بسی خطرناك
عاجز شده کاروان ادراك
بی بدرقه پامنه دریـن راه
از رهزن جهل باش آگاه
آن بدرقه در طریق علم است
در راه طلب رفیق علم است
علم آر بدست تا توانی
تا در ره جهل در نمانی
آنگاه قدم در ین سفر نه
عالم چو شدی کنون سفر به

ملا وفادی : په اصل کښی هراتی او دمولانا فصیحی هروی دشاګردانوڅخه ؤ په ریاض الشعراء کښی راغلی دی ، چه ملا وفا،تر١٠١٨هجری کال پوری په‌اګره کښی اوسیده اوپه هند کښی‌مړشوی دی لا ندنی دوه بیتونه دده بولی :

ازمامیوش چهره که‌مابی‌ادب نه‌ایم
کوته تر است ازنگه ما مژهٔ ما

### مطلع

شاکرم چون بندگان از رزق صبح‌وشام خویش
از زبان چرب دارم لقمه ای در کام خویش

میرحیدر حضالی : دتذکرهٔ میخانه لیکونکی دده مولد دهرات کارته‌بللې‌ده دپلار نوم ئې مولانا حاجی ؤ حیدر په کوچنیتوب هندوستان‌ته تللی اوهلته‌ئې دعلم‌و ادب «زده کړه وکړه اوپه شاعری کښی د خیل ورور مولانا و جهی هروی شاګرددی ،حضالی څووخته دمظفر حسین‌سره چه په (١٠٠٨) کښی مړشوی‌دی ؤ په(١٠٢٣ ) هجری کال‌کښی دزمانه بیك مهابت‌خان حضورته ورسیده او تر (١٠٢٨) کال پوری دده سره‌ئې په‌ښه‌آب وعزت ژوندکاوه د(تذکرهٔ‌میخانه) لیکونکی لیکی‌چه‌مادده سره په١٠٢٤کال کښی وکتل ده دشعر داقسامو څخه ٤ زره بیتونه ویلی اودوه مثنوی ئې د نظامی دخسرو شیرین په‌بحر کښی جوړ کړی چه‌دائې نمونه‌ده .

### فرد

در گنهه کزجانب‌مابود تقصیری نرفت
چون در آمرزش که‌کارلوست‌تقصیری کند

### ولهٔ

بیار باده که با آنکه پنبه داشت رسید
بگوش شیشه صدای شکست توبهٔ ما

### وله

گل بیك‌جرم شکر خند بر آتش بنشست
شیشها کرد پر از اشك بیك خندیدن

### مثنوی

چو خسرو را نظر بر دلبر افتاد
چنان افتاد کش دل از بر افتاد
چنان نالید کانش در فغان زد
از آن نالش ز مین بر آسمان زد

یحیی سبزواری: دشمع انجمن مؤلف لیکی چه دی د مرو دوالی منشی ؤ وروسته عراق عجم‌ته اوبیامکې‌مکرمې ته‌ولاړ اوپنځلس کاله دحرم محترم په‌جوار کښی‌واوسید. څوچه‌دهجری په١٠٣٠ کال کښی مړ شو ناظم تبریـزی وائی دده اشعار ترشمېر اوحصرزیات‌دی ، دالاندی دده اثر دی :

زبسکه رخنه‌ام از دود سینه برجان است
چون‌مجرمم همه تن‌چشم‌آتش افشان‌است
بدل‌شکستم ازآن‌پای‌گریه‌کین گلگون
عنان کشاده و افلاك تنگ میدان است

خواجه‌محمدهاشم: دی دبدخشان دسترو صوفیانوڅخه یوتن دی چه‌په بوولسمه پېړۍ کښی ئې ژوند کاوه دی په اصل کښی دخواجه‌محمد قاسم‌زوی اود کشم‌دښار اوسېدونکی ؤ دی لمړی دطریقه کبریه پیرو اوبیا وروسته دخواجه‌گان نقشبند یه په سلسله‌کښی داخل‌شو اوهندته ولاړ، او په‌برهان پور کښی دمیرنعمان‌سره او سېده خوچه بیامجدد الف ثانی‌دی سرهندته وروغوښت اوهلته ورغی اوپه دې طریقه کښی دخلافت مرتبې‌ته ورسېدې اوپه‌برهان پور کښی‌ئی د خلافت پر مصله کښېناست خواجه‌هاشم په‌شاعری کښی ښه مهارت درلوده ده ډېری رسالې په‌نظم کښی‌راوړی‌اوډېرې‌مثنوی‌ئې ویلی‌دی .

دالاندی دده افکارو بڅرکی‌دی :

غزل

هست تاژولیده گی باموی مجنون آشنا
تار جان من بود با تار قانون آشنا
گرنه یی بیگانه هوش آ شنا شو با کسی
کزدرون بیگانهٔ‌خلق هست‌وبیرون‌آشنا
کی شناسی مردمی چون مردمان چشم‌من
تانگردی از هجوم خلق باخون آشنا
خال‌آن لب دیده‌ئی کی عقلها ماند بجای
باچنان می‌چون‌شود زین‌گونه افسون‌آشنا
ریش‌دل ناسور شدزان گیسوان مشکبار
زخم این افعی نمی‌ماند بافسون آشنا
شحد دانش را به تلخی های نادانی دهد
گربود صغرای هاشم بافلاطون آشنا

کیفی سبزواری : دده مولد سبزوار اودی په اصل کښی دهغه‌ځای دیهودوڅخه‌ؤ وروسته مسلمان‌شو دی دجهان گیر په زمانه کښی په۹۷۷ کال زېږ بدلی اوپه (۱۰۳٦) هجری کال کښی مړشوی،دی‌هندوستان‌ته ولاړ اوپه۱۰۲۵ کال کښی ئې په‌لاهور کښی د «تذکرهٔ میخانه» دلیکونکی عبدالنبی سره وکتل: کیفی‌شل کاله‌د فقیری په‌جامه کښی دهندداکشروښارو سیاحت کړی دی ، په پای کښی‌ئې دشاهجهان په دربار کښی ښه‌ژوندکاوه ،کیفی ښه ښکلی او په زړه پورې اشعار لری ده یوه‌مثنوی‌هم‌دمولانا جلال‌الدین‌بلخی‌دمثنوی په بحر کښی جوړه کړی چه نوم ئی (آگاهنامه ) ده دالاندی دوه بیتونه‌دهغې مثنوی څخه‌دی :

آن گل او چون شدی از خوی بتاب
در دل گل بو شدی از شرم آب
لب چنان شیر ین که گاه نوشمند
برسر هم حرف بستی همچو قند

دابیتونه هم دده دی :

چون‌نالم کزعدم‌بانا مرادی های بخت
غافلم آورده اند وباز غا فل میبرند
در بیا بان فراقت ز مصیبت زد گی
گردبادی شوم وخاك کنم برسرخویش

وله

زبس هجوم نگه ره نمیتوانم یا فت
که ازنظارهٔ مردم ترا حجاب کنم

مطلع

چون ترحم کفر گردیداست خوی یاررا
مرهم‌جان کرده ام درعشق او آزار را

فصیحی هروی : دی‌دهرات د خاوری دیوو لسمی پېړۍ دزبر دستو اوسترو شاعرانو څخه یوتن‌دی ، دی‌په‌نسب سید او هلته ئې په‌هرات کښی‌روزنه اوپالنه‌شوېده لمړی‌دی دحسن‌خان دهرات دحاکم‌سره‌ؤ وروسته کم‌وخت چه‌شاه‌پخوانی‌شاه‌عباس په کال ۱۰۳۱ کښی هرات ته‌راغې دفصیحی‌مجلس خوند ورکی اوبیائې دخان سره عراق عجم او ماز ند ران ته‌بوت ، فصیحی په شاعری کښی ډېر غښتلی اوخیل پرسیالانو برؤ د الاندنی بیتونه دده‌دی :

مطلع

تو تماشا مکن آ ئینه که حیران نشوی
زلف‌برخویش میفشان که‌پریشان‌نشوی

فرد

شاخ ترم که تازه زبانم بریده‌اند
محروم بوستانم ومر دود آتشم

فرد

لبی کز نازکی بارتبسم‌برنمی‌تابد
بخون‌غلطم که‌امروزش‌بدشنام‌آشنا کردم

فرد

خنده می بینی ولی از گریهٔ دل غا فلی
خانهٔ ما ازدرون ابراست وبیرون آفتاب

فصیحی یودیوان لاره چه شیبز زده بیتونه‌ئې درلودل مگر اوس نشته دی :

سروری کابلی : دی دکابل دیولسمی پېړۍ دشاعرانو څخه یوتن‌ؤچه‌نوم‌ئې محابت خان‌اوتخلص‌ئې سروری‌ؤ . دی‌جهانگیر

دحاگمانو څخه یوتن ؤ څومره دکابل ناظم ( رئیس تنظیمیه )ؤ دریاش الشعراء څښتن لیکی چه‌دده اصلی نوم‌زمانه بیګ ؤ اود جهانګیر پاچاپه‌زمانه کښی ئې ډېرقدرت اونفوذوموند، جهانګیر د(١٠١٤) کال‌څخه بیاتر١٠٣٦ بوری‌په‌چل‌ول‌دده نفوذ کم کی‌او بیائی تر‌پایه‌خپل په‌حضور کښی‌موقع ور نکړه ، اودی مجبوراً دکن‌ته‌ولاړ،سروری ښه‌اشعاراوغزلی‌لری دالاندی بیتونه‌دده‌دی:

فـرد

صحرا نشین زسیل حذر کن که‌آستین
پر کرده ام زگریه و افشرده میر وم
تا نیائی در گلستان‌و نیائی در چمن
چشم بلبل کی شودبیدارو بخت باغبان

فـرد

زبس کردم‌فغان‌و کس نگفت‌از کیست بیدادت
به‌محشر هم‌نمی دانم که‌خواهد داد داد من
کمر درخدمت بت آنچنان در دیر بر بندم
که رشك آید مقیم کعبه را بر اعتقادمن

ربـاعی

چون‌دیوهواردست‌راه‌همه کس معذورهمی دار گناه‌همه کس
حاجت نبود بعذر تقصیر که‌هست اوضاع‌زمانه‌عذرخواه‌همه کس

میر محمد طاهرحسینی : دی‌دجهانګیردآخری اودشاهجهان داولی دوری یوشاعردی . اصلاً د تالقان ؤ تجارت ئې کاوه‌او ښه پرهیزګار سړی‌ؤ دشاهجهان په‌وخته کښی‌ده دظفرخان‌سره مینهٔ اوآشنائی لرله ، یوه ورځ‌ئې دپادشاه په‌حضور کښی دده ستاینه وکړه ، پادشاه وویل که دی نوکری کوی‌ده‌ته به‌د (پانصدی) منصب ورکړم ، خان‌ورغی‌او ورته‌ئې وویل که ته‌دا منصب رنه‌منې در څخه به‌خپه‌شم میر صاحب ئې په‌ځواب کښی‌دا غزل ووایه :

غزل

د یو انه ایم پرما باشد لبا س رندان
زنجیر گردن‌ما است زنجیرهٔ گر یبان
برمامپیچ بسیار خو اهیم بر جنون زد
یك نعره واررا ه است ازشهر تا بیابان
ز افتاد گـان نیامد استاد گی بخد مت
چو ن نقش پا برونم بر دن زراه نتوان
چون تارسبحه‌نتوان‌ازهردری درون شد
صد درنمیتوان گشت ازبهر یك‌لبی نان
طرز غزلسرائی ختم است برتو طـاهر
معنی زتواست‌امروزچون همت ظفرخان
دا دوه ښه بیتونه هم‌دده دی .

نسخهٔ دوران زنفع انتخاب‌افتاده است
آنچه‌من‌میخواهم‌اکثرزین کتاب‌افتاده‌است
بهم این‌دستـگیری منعمان راعین نادانی است
بدان ماند که‌دست کور را کور دگر گیرد

مولانا بزمی : دی په اصل کښی دقندز اودا دای قلی‌خان دشاعرانو څخه یوتن‌ؤ ، دی صوفی مشرب سړی اودشیخ نظام تابیری مریدؤدی‌دیوسف زلیخای جامی په‌تتبع اوشپږ نه‌بخت‌شو اود سلمان ساوجی په‌شـان ئې یوه قصیده هم شروع کړه ، دبحرالاسرار لیکونکی وائی چه‌ده خپل دواړه اثـره پـای ته رسولی‌دی ، لاندی بیتونه دده دی .

گر افتادم زپا درعشق آشوب جنونم‌است
همان‌داغ‌جهان‌افروزواشك لاله گونم‌است
زمیدان شهادت زخم تیغی برد ه‌ام بیرون
که‌دامان کـفی‌تاحشر در گرداب‌خونم‌است
دوچشم‌اندررهش دادم‌بیك‌نقش‌قدم«بزمی»
که‌جذب‌شوق باصددل بگوش رهنمونم‌است

دی هند ته‌ولاړ اودطالب ، کـلیم ، محمد صو فی سره‌ئې مشاعره وکړه ، وروسته بیرته‌راغی‌اوددبن محمدخان اشترخانی دفتوحاتو په‌نظم ئې پیل و کی او هغه‌ئی بشپړ کی منـګر والهٔ داغستانی په‌دې تخلص پل څوك یاد کړی اووائی‌هغه دکرخ ؤ چه‌به شیراز کښی اوسیده اودجهانګیر پاچا په‌زمانه کښی ګجرات ته‌ولاړ دالاندی بیتونه دهغه بولی .

فرد

نیستم ازماتـم پـروانـه... لیك دوش
شمع‌رادیدم که گیسوئی پریشان کرده بود

فـر د

ربیقراری غشقست دست‌شوق دراز
وگر نه این گـنه از جانب زلیخانیست

غزل

زداغ عشق تودرسینه دوش تن‌میسوخت
که هر نفس زتپ سینه پیرهی میسو خت
شهید عشق ترا شب بخو ا ب مید ید م
که‌همچوشعلهٔ فانوس‌درکـفن میسوخت
حدیث شوق تو بر نامه ثبت میکر د م
سیند وار نقطه بر سر سخن میسو خت
درون سیته چنان در گرفته بو د آتش
که آه درجگر وناله دردهن میسو خت
زسوز سینهٔ بز مـی شد اینـقدر معلوم
که‌همچوخس‌مزه‌اش‌در گریستن‌میسوخت

په هرصورت که په‌دې نامه یووی که‌دوه تنه خودافغانستان دیوو اسمی ښه‌ری دشاعرانو څخه دی .

صیدی ابیوردی : نوم ئې ابو وردی ، تخلص ئې صیدی او مولدئې‌دخراسان په‌ابیورد کښې‌دی . صیدی برسېره د شاعرۍ څخه‌ډېرښه‌خط ئې‌هم‌لاره ،دی‌هم‌دجهانګیرپه‌زمانه کښې‌هندوستان ته‌تللی اوډېر وختونه هلته اوسېدلی‌دی‌دالاندی بیتونه دده‌دی .

پیچش‌زلف‌تودردام کشد عنقاء را
مژهٔ تیز تو بر سیخ زند د لها را
وحشیانش‌همه‌ازچشمهٔ دل‌آب خورند
جگر شیر بودآهوی این صحرا را

مولانا شریف :دی‌دشبرغان داشرف‌په‌کلی کښې زېږېدلی‌دی دده کورنۍ‌اونیکه ګان دعلم وفن‌خاوندان وو ، ده‌بخپله هم منقول او معقول علوم زده کړه بیائې په شاعرۍ پیل و کی وروسته د( ١٠١٧ تر ١٠٦٠) هجری کال پوری دامام قلی خان دندیمانو څخه‌وۀ، دی‌ډېرښه خطاط وۀ اوله‌دغه لامله‌دده ماموریت داوۀ چه ،منتخبات به‌لیکی په عین ځوانۍ کښې په ١٠٣٩ کال ناروغ او مړشو .

دا بیتونه‌دده دی :

یکدانه دلی دارم وصد آبله دروی
این مهر برانگشت هنرمند که باشد
صنف مګسان فاتحه خوانند بشکر
پیداهست که‌بسیارشکرخند که باشد

. وله

فصل دیبم که بی نفس سرد نیستم
صید فریب مرغ چمن گر د نیستم
واله خوشم که‌پښهٔ داغم نه آفتاب
یاری نصیب سینهٔ بی‌درد نیستم

« دګلستان مسرت څخه »

چه آب خضر چه‌باد مسیح هردو یکیست
دو است مرګ اګر درد انتظا ر اینست

مولانا سعد الدین ضیغم : دده‌تخلص‌یوځومودە( ګداز)اوکله ضیغمۀ‌دی‌په‌اصل کښې دبلخ‌دی ده‌په شعر کښې‌ډېر لیاقت اواهلیت درلود له دغه‌لامله‌ئې‌دامام قلی‌خان‌په‌دربار کښې(١٠١٧-١٠٦٠) په‌ښهٔ عزت ژوند کاوه، خوبیاوروسته بی‌قدره‌شودده دوفات‌تاریخ ئې کلمه د (غم) چه (١٠٤٠) کېږی‌بللې‌ده ؛ مولانا ډېره‌لوړه قریحه او سلیم ذوق در لود ښه‌اشعارئې ویل دابیتونه دده‌دی:

دوش کان‌شعله به پروانګیم می خندید
عقل د یوانه بفر زانګیم میخندید
آشنا یانه جبین در حرمش سودم لیك
چشم ادراك به بیګانګیم میخندید
عالم ازرائحه بی خودیم مدهوش است
وای ا گر غنچه د یوانګیم میخندید

ربا عی

اشکم که‌ازدل‌رخت‌عزیمت بر بست
گامی زهو برحوالی دیده نشست
غلطید بجیب و زد بدا مانم دست
منزل منزل بخاك کو یت پیوست

میرمحمدامین : دافغانستان‌دیوولسمی ښه‌ری‌دشاعرانوڅخه‌و، دده تخلص«کامل»اود ندرمحمداشترخانی‌سره‌ئې(١٠٠٠-١٠١٦) ژوند کاوه څومودە ورو سته د ندار محمد زوی د ی بخارا ته وروغوښت اوهلته ورغی،دی‌دندرمحمد خان دخوا څخه مامور شو چه‌د امیر حمزه صاحب نقل‌په‌نظم کښې راوړی او هغه‌ئې‌هم پای ته ورساوه دائې دکلام نمو نه‌ده :

ز کشتنم چه ثمر تخم آ فت آلو دم
ز خاك سر بسر آرم گیاه نا بو دم
زبسکه سوخت دلم بیتو در ادا ی سخن
چو شمع کشته برون آید از زبان دودم
نه مائل قدسروم نه گشته بندهٔ گل
ز گشت باغ پر یشان دلی است مقصو دم
چو بر گ‌لاله بخون غوطه خورده‌ام کامل
زبخت خو یش همین بس امید بهبود م

دیری کا بلی : نوم ئې محمدابراهیم حسین . تخلص ئې «دیری» اوپه کابل کښې زېږېدلی دی دسکینة الفضلاء مؤلف لیکی چه‌دیری‌همت‌خان اوداسلام‌خان‌زوی ، دشاه‌جهان اوعالمګیر دزمانې دسترۀ منصب دارانو څخه ۀ فضیلت غو ښتونکو به دده څخه فیوضات اخیستل په١٠٤٠ هجری کال کښې مړ شو .

د«ماثر بلخ» لیکو نکی دی په‌اصل کښې دبلخ‌بولی اووائی روزنه اوپالنه‌ئې په‌کابل کښې شوې‌ده اولیکی چه‌په هلکتوب کښې‌خیل‌پلار سره‌دا کبر پادشاه‌دربار ته‌ورغلی و،څومودەوروسته دکن ته تللی اوهم څووخته په‌ګجرات کښې‌اوسیدلی اودشهزاده پرویز دجهانګیردزوی‌دنو کرانو په‌ډله کښې‌پاتی‌شواودابیتونه‌ئې چه‌د خان خانان (متوفی ١٠٤٥) په‌مدح کښې ویلی دده دکلام نمونه بولی :

باغ را پیرایه نوشد گل به سلطانی نشست
بلبل خوش نغمه بر شا خ ثنا خوانی نشست
لشکر گل خیمه زد درباغ وآمد و قت آن
کز فغان بلبلان در خانه نتوا نی نشست

دور گل چون دور جام باده می بخشد حیات
گوئیا گل سالها در آب حیوانی نشست

کاشفی : دعلیقلی او والهٔداغستانی اوعبدالحکیم ر ستاقی

اولوالجی پهروایت مونالا کاشفی په اصل کښی د بدخشان اوهلته روزل شوی اودشعر او شاعری او پوهنی ښه مقام ته رسیدلی دی بیانو دسیاحت دپاره هند ته تللی اوهلته هو موده اوسېدلی دی دابیتونه په ریاض الشعراء کښی دده د کلام د نمونې په توګه راغلی دی :

غزل

مگر بپای جنون طی منزل افتاد است
که ره بدوست نبرد آنکه غافل افتاد است
بگوش میرسد از هر صدا هزار جواب
ولیك نفس در ادراك سا ئل افتاد است
گهی ز کعبه سری میتوان بدیر کشید
رهی بحق هم از آن سوی باطل افتاداست

و لـه

ببرق طور کسی دیده آشنا کرداست
که گرد خاك دردوست طوطیاء کرداست
تدا رك گنه از توبهٔ نصو ح ای شیخ
تو کیستی که کنی رحمت خدا کرد است

مطلع

زبسکه ناز ترا بانیاز ما جنگ است
میان ماو توصحبت چوشیشه وسنگ است

رضای طعنی : دده تخلص لمړی «مجمری» ؤ بیائی د«طعنی» تخلص غوره کی ډېره موده دخواجه پارسا پهمدرسه کښی ددینی علومو په مطا لعه بخت ؤ وروسته بیخایهشو او بیا ارباب قلیخان دی په خپلو مامورینو کښی وینو خوبیائی دکار څخهلاس واخیست اوپه ۱۰٤٤ کال کښی مړشود کلام نمونهٔ یې داده.

مطلع

حبیب مرا تازه رو شی رفو نیست
نخل ر فو را دریـن بـاغ نمو نیست

ر باعی

آنروز که چین بز لـف سنبل دادند
نظـارهٔ روی گـل به بلبـل دادند
بـا بیخبران ذوق تـجمـل دا دنـد
بـا مـا خـاری در بـدل گـل دا دند

مولانا وامق : په اصل کښی دبلخ ؤ ، د«مآثر» دلیکونکی پهقول دی څووخته دهندو ستان په وسعت آباد کښی پهسیر او سیاحت بخت ؤ اود شیخ الشیوخ شیخ علم الله پهمرسته دخان خانان عبدالرحیم خان ملازمت ته ورسید مولاناوامق پهشعر اوشاعری کښی لوړمقام درلود ده دخانخانان پهستاینه اومدح کښی ډیرې لوړې قصیدې ویلی دی دده دمشهو ری قصیدی څخه چه دهغه پهمدح کښی ئی ویلی اوپه «ماثر» رحیمی کښی راغلی ده یوشو بیتونه دنمونې په توګه راوړو . (دمدحیه قصیدې څخه )

ای ترا ازصدر اعلی آمده طه خطاب
ذات پاکت کرده ثابت تیر گی برماهتاب
چون شدی بر نه فلك گفتند استدلالیان
رفت ازچرخ چهارم جانب عرش آفتاب
عاجزم شا هار هم بنمـای سوی دا وری
کـزسجوددر گهت خواندش ملك رفعت مآب
خانخانان آنکه یادش تشنگان خویش را
نشه ای بخشد که یابد جان مخمور از شراب

دنعتیه قصیدې څخه الخ .

ذره سان تاخویشتن را ازحساب افگنده ایم
رخت همت بر بساط آ فتاب افـگنده ایم
تشنـه طبعـان محبت را سر بـی گشته ایـم
خویش را چون ابر رحمت درسراب افگنده ایم
مـاو دل رستیم ازمحنت مـهم خـو یش را
تـا بدرگاه شه عـا لیجنا ب افـگنده ایـم
احمد مرسل شه عرش آ شیان کزصو لتش
لرزه در جان کی وا فر اسیاب افگنده ایم
آن شاهنشاهی که گوید همتش در روزحشر
مازدفتر حرف عصیان از حساب افگنده ایم

ا لخ

لمړی قصیده ۱۹ او دو همه ۱۸ بیته ده .

وجهی هروی : وجهی پهاصل کښی دهرات او هلته روزل شویدی هوموده پهقندهار کښی درستم میرزا اومظفر حسین میرزای صفوی سره ؤ کوم وخت چه هغه دواړه دازبکانو داستیلاء لا ملـه پرخراسان باندی هندته ولاړل وجهی هم ورسره ولاړ اماپس له څووخته خان خانان ته ور غی اوهلته دورشو اوپتی خاوند شو، پس لهځو مودې نه دهغه دربـار څخه هـم بیـل او دمظفرخان دزین خان کوله زوی ته ورغـی ، و جـهی دهرات دیوولسمی پیړۍ د سترو شاعرا نو څخه ؤ دا لا ندی بیتونه دده دی .

بیـت

آتش زجای می جهد و میـکند فغان
سوزی مگر زعشق تودرجان آتش است

مطلع

وجود خضر و مسیح از حیاة ما نفسیست
به‌نزد همت ماهر دو کون کم ز خسیست

داځو بیتونه دهغی قصیدی څخه چه ده د خان خانان عبدالرحیم خان په ستاینه کښی ویلی‌وه اقتباس کړیزی بشپړه قصیده (٤٥) بیتو نه لری :

ای فتنهٔ زمانه بچشمت امید وار
ناز از نگاه گرم‌توچون غمزه کامگار
تیغ محبت تو زخون شهید عشق
چون ابر دیده ام زفراق تو لاله بار
طفل کرشمه را تو معلم نه پیر دهر
جلاد غمزه را تو مربی نه روزگار
سرو قد تو وقت روش جلوه آفرین
لعل لب تو گاه تکلم حیات بار
آتش دلان کوی وفا را توئی مراد
این فرقه‌را به کعبه ودیرمغان چه کار
( وچې هروی دی ولیدلی شی )

مولانا بهزادکابلی : دی په‌اصل کښی دشاعرانو څخه‌یوتن ؤ خو بیاهندته تللی دی له‌هغه‌ځایه چه‌نوموړی دکابل‌دبهزادی‌تولنی څخه ونو لکه ئې خیل‌تخلص بهزاد اینی دی ، ده په هند کښی دسپاهی‌توب په‌ډول ژوندکاوه. بیائې د خانخانان‌په دربار کښی لارو مونده اوده په‌مدح اوستاینه کښی ئې قصیده جوړه کړه اوانعام ئې واخیست . بیائې دخواجه بیګ میرزای صفوی سره شپی ورځی تیری کړی دالاندی‌خوبیتونه دده دقصیدی دی چه دعبدالرحیم خان په‌مدح کښی‌ئې ویلی‌دی :

صبح است ومژدهٔ ظفر از آسمان رسید
یعنی خدا یگان ز مسین وزمان رسید
آمد ملوك نامور ملك عدل وداد
نواب خان خانان کشور ستان رسید
بر مقتضی وقت در ین روزه روز گار
خور شید برتگاور آتش فشان رسید

مولانا وفائی : دی دافغانستان دیوولسمی پیړۍ دشاعرانو څخه ؤ، په «مآثر» رحیمی کښی‌راغلی‌دی چه‌مولانا وفائی‌دهرات دخوش طبعانو او شاعرانو څخه دی ، دی په پخوانی سبك خبری کوی، دهرات څخه دتماشې او سیاحت په توګه هند ته راغلی اودخان خانان عبدالرحیم خان په‌مداحۍ کښی‌ئې پوره انعامونه او ښه بخششونه به بر خه شویدی له‌دې ځایه ښکاری چه‌دی دخیل وطن څخه پردی هیواد ته تللی دی . دده دوې قصیدی چه یوه‌ئې ١٨ او بله‌ئی ١٢ بیته لری، اویوه رباعی په «مآثر» رحیمی کښی راغلی دی ؛ چه دنمونې په توګه ئې خوبیتونه‌واخیستل شول .

بیت

ای میسر بدولت تو کمال — وی مقرر بخدمت تو نوال .
صورتت دلپذیر برهمه کس — همتت دستگیر در همه حال
از سلاطین معظمی درقدر — وز خوانین مکرمی بخصال
خان خانخانان‌وخان جانانی — درجهان خرده دان با افضال

و له

عقل چون پرده ز رخسار زمین بر گیرد
نوعروس سخن ازمدح تو زیور گیرد
گرشود هم صدف گوش گهر نیست عجب
بسکه ازدرج لب لعل تو گوهر گیرد
خان خانان فلك فهم ومه اوج هنر
نور ازمهر ضمیر ت مهٔ انور گیرد

رباعی

ای مهر رخت آئینهٔ صبح امید
خور شید کرم از و هویدا جاوید
درخور نبود بارخت آئینه ماه
کائینهٔ برابر نشود باخور شید

میرفضل‌الله بدخشی : د بدخشان دولایت دسپاهیانو څخه ؤ، اودهغه ځایه دهندوستان وخواته تللی‌دی، له‌هغه لامله چه‌پلارئی دجلال‌الدین اکبر په دربار کښی لوړمقام ومونده نومیرفضل‌الله هم په هغه ملك کښی ژوند کاوه او خو موده وروسته دخان خانان سره ؤ ده ښه شاعرانه قریحه در لوده کله‌کله به ئې شعر وایه : دالاندی رباعی ئې دخان خانان د جلوس په‌مناسبت په برهان پور کښی و یاې ده :

ای علم تو چون محیط و اشیاء چو نقاط
ز اقبال سکندر وبدانش بقراط
تاریخ جلوست از خرد جستم گفت
آمد به محال خر می روی نشاط

میر هاشم بدخشی : دی د بدخشان د سیدانو څخه دی دده تخلص محترم اوډېره موده په هند کښی او سیدلی دی .

په ګجرات کښی د خانخانان دشاعرانو په‌ډله کښی داخل‌شو. اوتقریبا لس کاله ئې ده په دربار کښی تېر کړه تر کال ١٠٢٤ پورې په ګلکنده کښی ژوندی ؤ دی دخانخانان په مدح کښی ډېری قصیدی لری چه‌له هغو لحینی پنځه قصیدې اویوغزل په‌مآثر رحیمی کښی درج دی : دمآثر رحیمی په‌قول میرهاشم په سخن‌وری کښی پوره واك درلود، اوښه‌اشعار ئې ویل، دده یوغزل او خو بیتونه دنمونې په‌ډول لاندی‌را وړو

غـزل

گردهد هردو جهان را بد عا دل بکسی
درد دل را نتوان گـفت بـهر ملتمسی
منتظر تا نـکند دیـده دریـن راه سفید
کی بگوش آیدش ازبادیه بانگ جرسی
خرمن عمر بد انـد یش نسوزد دم سر د
هر که این شعله فرو زد دم آ تش نفسی
دل همان است که بادرد کند خو ور نه
هیچ دل نیست که دروی نکند جا هوسي
ذوق مجنون شکـن طـرهٔ لیـلی شمر د
بیخود آنجا نبرد د ست بهر خارو خسي
محترم جای بـکنج نفسي کن چو هزار
تا کند گوش بفر یاد تو فر یاد رسي
له یو تشبیب څخه څو بیتونه
ای دروفا نـمونه ودر د و ستی مثـل
چون عشق بی قرینه‌وچون حسن بی بدل
هم فتنه را ز قامت تو د ست دل تهی
هم شیوه راز نر گس تو پای عشوه شل
هر عشوه را اشارهٔ چشم تو مستشار
هرغمزه را خد نگ نگاه تو مشتعل
فریاد ازان کرشمهٔ آسوده کش کزو
ز آسو د گی بمغز اسیران فتد خلـل
ازبسکه‌دلم شدبه‌توترسم که‌هم زلطف
تو خاطرم بجوئی ودل افتد از بغـل

بدخشی حضرت : ابوالفیض محمد سعید حضرت دبـدخشان

دبارك‌دی چه‌په (۱۱) هجری پیړۍ کښی دبدخشان دحکمران سلیمان شاه په چوپړ کښی او سید واو دهغه لـه‌خوا دگـنجوت داداری کارونو مامور تا کل شوی‌ؤ.خوهرنگه‌چه‌په ۱۰۵۰ کال کښی کامران حسن دخیل ورور سره جگړی ته پاځیدلو اوهغه ته ئی ماتی ورکړه مغلوب ئی کړو نو حضرت دتر کستان په لوری لاړ په کاشغر کښی مړ شو . حضرت په شعر ویلو کښی پوره لاس لرلو داغزل ئی ډیر ښه واقع شو ی دی .

فلك آواره ز کهسار بدخشا نم کرد
همدم ناله و فریاد غریبا نم کـرد
منکه چون بلبل نا لان بچمید م بچمن
زچه صیاد قضا بستهٔ ز نـدانـم کـرد
داشتم خاطر جمع ازغم آشوب جهان
ذوق پابندی زلف تو پر یشانم کرد
بشب وصل چو پر وانه نثارت نشدم
عشق درمشهد هجران توقربانم کرد
شت بیاد کمرت کرد خیالم جو لان
دیده ام موی کشید آخر گریانم کرد

هدایت : خواجه محمدصدیق دبدخشـان د کشم دی چـه

«هدایت» ئی خیل تخلص ټاکلی دی دامام‌ربانی له لویو خلیفه گـانو څخه‌دی په‌صوری او معنوی ښیګڼو ښایسته او د حقیقت اوطریقت په مقام سم‌برابر ؤ. دمـاشوم تـوب پـه و خت کښی هندوستان ته تللی او د عـبدالر حیـم خان خا نـان سره ئـی ډیره ګذاره‌و کړه نوموړی‌دامام ربانی په‌نزدیو منلی او محترم سړی ؤ اوخپل اکثره مکتوبونه ئی دده په نوم لیکلی دی او همدارنګه ئی دامام ربانی دبدء اومعادرساله راټوله کړی ده . هدایت‌دوه مثنوی ګـانی دمولانای روم‌او خسرو شیرین نظامی د مثنوی ګـانو په‌وزن جوړی کړی‌دی . غزلیات هم لری چه‌د عشق او عرفان جوش‌ورځخه څر ګـندیزی داغزل ئی‌له هماغو غزلو څخه دی،

( غزل )

ماز جام‌و شیشه سامان شراب انداختیم
اعتباری چند پیچیده در آب انداختیم
چون یکی بودست‌ساقی وحریف وجام‌می
ماهم این ماومنی را از حساب انداختیم
زین خودی موهوم اسمی‌بر تراشیدیم رسم
الله الله بر عبث نقشی بر آب اندا ختیم
اشك ر یزان بود بی‌سیلاب ابر نو بهار
گر یه‌ئی کردیم وتهمت‌برسحاب انداختیم
نشیء از می گرفتیم و تهی کر دیم جام
خانه خالی گشت دروی آ فتاب انداختیم
راست‌پرسی ماسوی‌الله‌نیست درمعنی‌حجاب
بل زغیرت بر رخ وحدت نقـاب انداختیم
چون‌هدایت گشت‌ساقی ساخت ازخمخانه‌جام
دورهٔ مـا بود در دریاشراب انداختیم

خواجه هدایت د۱۰۵۰ کـال دشوال په‌میاشت کښی‌مړشوی اوپه‌پیلی کښی خښ شوی دی .

حکیم لایق : دیوولسمی پیړۍ له‌شاعرانواودام‌البلاد بلخ څخه‌دی اوپه‌دی سیمه کښی ئی نشوه نما کسړی اودلته تربیه شوی‌دی . لایق متداول اومروج علمونه د بلخ په محیط کښی پای‌ته رسولی‌دی اودخپل فضل او کمال له‌مخی ئې دامام‌قلیخان دربا رته لاره مینده کړه . لایق ښه‌شعرو نه‌لری دالاندنی‌بیتونه د مآثر بلخ په تذکره کښی‌دده په‌نوم‌ثبت‌دی .

مطلـع

میسر کی‌شود وصل توای آرام‌جان مارا
من ازخوبشان‌توابینم‌تواز بیگانـگان‌مارا

فرد

دل‌دامن زلفت بکف آورد بصد سعی
دانست که‌دران‌دامن آن‌شب سحری هست

ولـه

پابدامان گرچه پیچیدیم همچون گـرد باد
دل بوا دیها فنا د و سر بصحرا ها ز دیم

ترابی : د بلخ له شاعرانو څخه دی د پوولسمی پیړۍ په منځنیو وختو کښی ئی ژوندکاوه آقای‌صاحب دبحر الاسرار په حواله لیکی چه‌دهغه مولد خواجه خیران دی دیوځه علومو له تحصیلا تو څخه ورسته په طبعی شعر ویلو مصروف‌شودبلخ به مأثر کښی مذکوردی‌چه دسلاطینو دربارته‌ئی‌تله‌راتله در لودل اوموقر او سیدو امام‌قلیخان ددی‌قصیدی په صله کښی چه مطلع ئی دا ده :

ای کـفت طور سخارا ید بیضای د گر
همچو خورشید بخـاك سیه اندازد زر

نومورې بزرګ‌پوهدلی‌دی په‌وروستیو وختو کښی‌ئی‌انزوا غوره کړه دحضرت علی په روضه معتکف شو .

مولانا مرهم : دامام قلیخان د زمانی له شاعرانو څخه دی دهغه دربارته ئی نسبت کیده دالاندنی‌مطلع‌اورباعی دهغه‌ده :

مطلع

اگر بقاعدهٔ دل روم بر یشا نیست
بطرزدل روم کار و بار حیرانیست

رباعی

اد نی ستم فراقت اعلی اعلی اندك غم هجران توصحراصحرا
آتش بدرون‌سینه‌خرمن‌خرمن خونا به بروی دیده دریا دریا

ناصر : اصلا دبلخ دی خوخیل تحصیلات ئی په‌بلخ اوبخارا کښی پای‌ته رسولی‌دی څه موده ئی په‌بخارا کښی دقضا وظیفه درلوده دعبد العزیزخان په زمانه کښی عسکری‌قاضی وتاکل‌شو شعر به‌ئی هم‌ویلی . دالاندنی شعر دباخ په ماتر کښی‌دده په‌نوم کښی ثبت شوی دی .

مطلـع

همچو کمان بعزلت بستم میان خودرا
بر گوشهٔ تنها دم نام و نشان خود را

رباعی

شهر خود دلگیر و غربت بینوا میسازدم
من نمیدانم کـدام آب و هوا میسـازدم
من‌نمیدانم که‌روزو روزی من ازکجاست
سرگـرانی کـار سنـگ آسیـامیسازدم

ملا کتابی : دیوولسمی هجری قمری‌پیړۍ‌له‌شاعرانو څخه دی ده‌هم دعبدالعزیزخان اشتر خانی ( ١٠٧٥ ) په دربار کښی ژوندکاوه بنه طبـع اوښه ذوق ئی‌درلود دابیتونه دده دی .

جذبهٔ شوقم که‌جا در بزم نازم داده اند
پیر عشقم مسلك ناز و نیا ز م داده اند
ذرهٔ الماس در دم ، همز بـان تیغ عشق
عمرها در بوتهٔ جو هر گـدازم داده اند

ملامستغید :دبلخ دمآثرخاوند لیکی چه‌ملامستغید دجگدلگ (سنجدزار) دقریی‌دی چه‌داقریه دبلخ داخچی په حکومت پوری تړلی‌ده څه موده ئی په‌بخارا کښی د عبدالعزیز اشتر خانی په خدمت کښی تیره کړه‌په سمر قندکښی دطبابت په شغل لګیا وه اود یونانی دواګـانو دوکان‌ئی در لود دهغی استغنا په اثر چه لرله‌ئی ژرترژره‌له عبدالعزیزخان‌څخه‌خوابدی‌شو او دسبحانقلی دربارته لاړ دی دسبحانقلی دمجلس له‌ندماوه څخه وه .

دنصرآبادی په‌تذکره کښی‌چه دده‌مودی سړی‌وړ اغلی‌دی چه‌طبع ئی‌نهایت توان‌لری . په‌دی وختو کښی ئی‌دوه‌کلمی‌صایبا (صایب اصفهانی) او کمینه ته لیکلی دی هغه قصیده چه د ملا عبدالعزیز په‌ستاینه کښی ئی لیکلی‌ده هغه قصیده ئی دیره بنه ویلی ده .

طاهرنصر آبادی له‌همدی قصیدی څخه لس بیتونه په‌خپله تذکره کښی درج کړی‌دی‌چه خوبیتونه‌ئی‌دنمونی په‌ډول واخستل شـو ل :

تاج آن‌سرکش که گردون داده زیب ازگوهرش
تـا ز ند روزی مهیـا کـر ده سنـگی بر سر ش
هر کـرا شوکت قوی حسرت فزون تربعد مرگ
شـا هر ا جز آه نبو د حـا صلی بعد ا ز سر ش
شه کـه از اخلاق نیـکو سینه را نبود سرور
صاحب معنا در آن صورت نخواهند سر ورش
ازجهـان خواهش مکن بیش از توانائی‌خویش
بشکند شا خ ار بو د بیش از توا نائی بر ش

شیخ‌نزعی : دمزار دشبر غان دی دنظرمحمدخان‌اشترخانی په‌دربار کښی ئی رتبه اومقام حاصل کړی‌اومعاش‌ئی‌هم درلود خوپه‌خوانه خوانی‌کښی مړ شو . دنزعی اشعار بنه واقع شوی دااشعار دهغه د سرشاری طبعی اوسلیم‌ذوق څخه‌دی .

شو رش زلف جنون دارد دل مجذ و ب ما
رو نق چشم پر یشانی بو د مطـلو ب ما
وای برما نوگـرفتاران کـه ازبار مـلال
بـا ل سیمر غ طلب را بشکند مطلوب مـا

☆ ☆ ☆

در پای خم زیأس صراحی چنان گریست
کز اضطراب دل نتوانست دم گرفت

☆ ☆ ☆

چنان کاست در بستر از ضعف هجران
تن زار من در فراق صو احب
که بعد ازوفاتم به تابوت یابند
چو نا ل قلم د ر قلمدان کا تب

میرك : نوم ئی سیدعبدالله دی چه په میرك پیژ ندل شوی دی دی دبلخ دیو ولسمی پیړۍ له لویو فضلا وُ اد شاعرانو څخه دی دندر محمد خان اوامام قلی خان په دوخت کښی بې دبلخ دقضا په وظیفه کښی شغل در لود . د بلخ په مآثر کښی راغلی دی چه دی په نژدی موده کښی له بلخ څخه اصفهان ته لاړ خلویښت کاله هلته میشت وُ شاه عباس دیرمحترم ګڼلو په تقوی اوښه سړیتوب یا دیده . صائب اصفهانی چه دمیرك د مودی سړی وُ د میرك دګرانو غزلو په لحواب او استقبال کښی ئی کوښښ کړی دی لکه چه وائی :

اینجواب آن غزل صائب که میر بلخ گفت
نیستم غافل که دارد دلبر من دل زسنگ

میرك دفضل اواستاذی شهرت میندلی دی اودخیلی زمانی داکثرو شاعرانو ممدوح واقع شوی دی دبلخ دمآثر خاوندلیکی چه نا کام بلخی دده معاصر دی چه دده په پستا ینه کښی څو قصیدې لری .

میرك په اصفهان کښی دخلویښت کاله ژوند نه وروسته په سنه ۱۰٦۱ کښی مړشوی دی اوبه هما غه لحمسکه کښی خښ شوی دی دالاندی غزل دده دی .

غزل

نه دیده قطرهٔ خون از جگر برآورده
بدیدن تو دل از دیده سر بر آور ده
بدور دیده نه مژګان بود که خار غمت
بیا خلیده و از دیده سر بر آور ده
زقدو چشم تو حیران صنع بیچو نم
که چون سرو تو بادام تر بر آور ده
پی نثار رهت (میرکے) زدیده ودل
هزار دانهٔ لعل و گهر بر آور ده

میلاسیلی : لحینو ور ته سهیلی اولحینوسیلی ویلی دی خوبه هرحال دښی قریحی او ښه ذوق شاعردی چه پاخه او دنغزو تخیلاتو څخه ډك شعرونه لری دبلخ دمآثر په وینا دندرمحمدخان دزمانی له شاعرانو څخه دی اودنصر آبادی په وینا دسبحا نقلی دعصر شاعردی او دبحرالاسرار په قول چه خپل معاصرتی ورته ویلی دی دامام قلی په زمانه کښی ئی هم ژوند کړی دی محمود کتابدار دده داشعارو یو دیوان لیدلی دی چه په غزلیاتو، قصائدو قطعاتو، رباعیاتو او مثنو یاتو باندی مشتمل دی اودا لاندی اشعار له همده څخه راوړی .

غزل

زمن هر کس تولی کرد مشت خون فرستادم
تردد اندکی کردم ز خود مضمون فر ستادم
مسیحا دی تولی قرض داغی کرده بود ازمن
نهادم نام اوخورشید و بر گردون فرستادم
مرا دم تا نگردد دست فر سود لب انشا
بسویش نامهٔ بیگانه از مضمون فر ستادم
درین ایام میخواهم که در آزارخود کوشم
درآزار دل از عا فیت بیزار خود کوشم
اگر منع تماشا اینچنین لذت فروش آمد
تمام عمر در محرومی دیدار خود کوشم

دابیت دبلخ په مآثر اودحسینی په تذکره کښی دده په نوم ثبت دی .

چون کبوتر بچهٔ هستیم و بالی میزنیم
بهر یك ارزن که آنهم دردهان دیگرست

مولانا صالح رشحی : دصفا په قول نیکونه ئی دبلخ له لویانو څخه دی لمړی ئی دعلم تحصیل و کړ وروسته بیاخدمت ته داخل شو دکتاب داری منصب ئی ومیند اوملك الشعرائی هم لرله. داچه په دربار کښی ئی دکتاب داری منصب اوملك الشعرائی لرله ددی ذکر نه کوی خو څرنګه چه له بحرالاسرار څخه دده اشعار نقل کوی نو داخبره منل کیږی چه د (۱۱) پیړۍ له شاعرانو څخه دی .

لحکه چه بحرالاسرار محمود دندرمحمد خان په زمانه کښی له (۱۰۵۰ نه تر ۱۰٦۱) پوری لیکلی دی ما لاندنی اشعار له هغه څخه نقلوی .

دردلت میگذرد بیخو دی ما یانی
یادمی آری از ین بیکس تنها یانی
منکه می آمدم آنجادل سوزانم ماند
هست آن آتشی افروخته برجا یانی

وله

دمی که ماه من ازمطلع نقاب بر آید
هزارفتنه ازآن چشم نیمخواب برآید
زرشك آنکه بهمراهی تو سایه نباشد
تمام عمر نخواهم که آفتاب بر آید

وله

ملاف ای با غبان از حسن گل چندین چه میگوید
مشخص میشود د گر ساعتی آن گلعذار آید

ملانظمی : دنصر آبادی اودبلخ دمأثر یه‌قول دبلخ د فلوردی، مگر دغینو نورو یه‌قول دبدخشان د فلوردی چه‌دهغه ځای یوه‌قریه گڼله کیږی نظمی ته‌امام‌قلی‌خان پام لرنه‌و کړه اوملك‌الشعرا ئی ته‌یې ورساوه او هم ئی دخپل و طن حکومت ده ته ور وسپارلو . دی ندرمحمد خان ته هم ورسیدو . دغینو یه‌قول اخلاق محسنی ئی نظم کړی اوداسی دیوان څښتن‌دی چه غزل رباعیات او نور شعری مصطلحات لری دیوی قصیدی مطلع ئی داده .

چنان گداخت اساس وحودم از شیون
که همچوصورت جان‌محو گشت صورت تن

داغزل هم د هغه ده .

غزل

اگر سر بر نسیم صبح سایم درد سر گردد
وگردل بر گل جنت نهم داغ جگر گردد
به تشخیص نفس آئینه بر رویم چه میدا دی
که بعد مرگ آه درد مندان بیشتر گردد
زمردن نیست باکم نظمی امازین فغان دارم
که‌چون من‌رخت بربندم محبت دربدر گردد

سالك : په مولانا نیاز پژندل کیږی یعنی په دی نامه مشهور وَ اوسالك ئی تخلص یادیده دی دندر محمد د زمانی لهشاعرانو څخه دی لمړی دده دربارته منسوب وَ خو وروسته عبدالعزیز خان ته ورغلی‌دی په شاعری‌ کښی ئی نښه اقتدار ارلو اوخوندور شعرونه ئی ویل دالاندی بیتونه دهغه دی .

باز درجوش است گوئی باده درجام بهار
کز رطوبت پر گردید ست دا غم در کنار
بهر قتل بیدلان از باغ سر بیرون کشید
سوسن اندر گسوت خنجر سر ا پا آ بدار
لا لهٔ این دشت را با من چه نسبت میدهد
کز ازل در سینهٔ او شیدا ست قلبم دا غدار

ملا یگانهٔ بلخی : د نصر آبادی دلیك له قراره‌دامام قلی دزمانی لهشاعرانو څخه دی اودریاض‌الشعراء یه‌قول دسبحانقلی په خدمت کښی وَ خوبه هر صورت داشتر خا نیانو دعصر له شاعرانو څخه‌دی اویوولسمی‌هجری پیړی‌ته نسبت لری د بلخ په مأثر، نصر آبادی او ریاض‌الشعراء کښی یوالمی دا مطلع دده په نوم ثبت ده .

مطلع

عرق هر گه کزان رخسار آتش‌ناك می‌افتد
گل خورشید میروید اگر برخاك می افتد

عوض بیگ‌تالقانی : دی د نـدر محمد خـان د زمـانـی لـه شـاعرانـو څخه دی چه دده پـه امر دتالقـا نـو پـه حکومت مقرر شوده دنظامی مخزن‌الاسرار ته‌لواب و یلی دی اد عائی اشعار به‌ئی ترپل په‌آخره کښی حج ته‌لاړ او په فارس کښی دلیارو هونکوغلو له‌لاسه مړشودالاندنی بیتونه‌دهغه‌دی .

چرا غ دیر و فا یم مبین حقیر مرا
دود من ز دماغ ملك درآزار است
دیدهٔ محك ای مشتری مبین عیبم
زرتمام عیار از محك درآزار است

ملایکتا بلخی : دی هم‌دافغانستان د یوولسمی‌پیړی‌ یوشاعر دی . ملا یکتا دلوړ شعری ذوق او سر شاری طبعی څښتن‌دی . اشعار ئی دجنگ جگړو دصفحو ښایست او بیاضونه دی ده هم دامام قلیخان اشتر خانی سره محترمانه استو گنه کوله .

د گلستان مسرت‌خاوند دالاندی‌رباعی‌اودوه بیتونه‌دهغه یکتا بلخی په‌نامه‌لیکلی دی .

رباعی

از گریهٔ ماست هر کجا طوفانیست
وزنالهٔ ماست هر کجا افغا نیست
بلبل که بعلم نا له افلا طو نیست
در مکتب ماطفل گلستان‌خوانیست

فرد

نگردد نرم ازمعزول گر دیدن دل ظالم
همان‌سخت‌است‌دندانی که‌افتدازدهن‌بیرون

مطلع

دل دو نم با ظهار درد نا چا ر است
زشیشه‌ضبط فغان درشکست دشواراست

مولانا خر گاهی : دی دشا دمان‌دتراشان حصار دخرگاه په قریه کښی لخیزیدلی دی په بلخ کښی ئی‌نشوونما کړی اود شاعری‌ ذوق‌ئی دراود او محمود ( کتاب‌دار ) دامام قلی او ندر محمدخان دسلطنت‌دښرین فلك نومی کتاب دهته منسوبوی چه‌سندر غاړو به‌دده په خیله‌زمانه کښی ډیر ډیر ویلو دالاندی بیتونه دخر گاهی دی .

مطلع

بلا همی چکد از چار حد خانهٔ ما
فسوس میدهداز فـرش آستانهٔ ما
ما خاتم محبت و جا نان نگین ما
زین خوبتر دگر چه بوددل نشین‌ما
اول بحسن برد وپس آنکه بعشق‌داد
مارا بما نـاند جهان آفر ین ما

رباعی

د یوانگیم بسکوه و وادی آورد
غم را بدل بجای شادی آورد
عشق من اگر ترا به بیرحمی برد
حسن تو مرا به نامرادی آورد

زایر : نوم یې صالح‌محمد اوپه بدخشان کښې زېږېدلی‌دی.

دی دامام ربانی مجدد الف‌ثانی له‌ارادتمندانو اومریدانو څخه یوتن‌دی اود رستاقی په‌وینا آزادمشرب لری چه‌د ښه‌خلق اوخوازه صحبت خاوند وٴ په‌شعرویلو کښې ئی یوره لاس لرلو او کله‌کله به‌ئی ابیات انشا کول په (۱۰٦۷) کښې مړشوی‌دی والاندنی رباعی دهغه ده .

رباعی

گـاه ازستم چرخ نگون میگریم
گـاه از الم سوز درون میگریم
القصه درآتش جدائی چو کباب
میگریم و میسوزم و خون میگریم

حبیبی کابلی : نوم ئی حبیب‌الله دی چه‌د کابل د کوهدامن په‌فرزه کښې لېږدلی‌دی‌په کابل کښې‌لوی شوی‌اوروزل‌شوی‌دی لـکه چه‌معلومه ده دعالمگیر په‌زمانه کښې هند ته تلی دی اود خیل یوسف زلیخا په‌نظم ئی پیل کړی‌دی اوبه ۱۰۸۷ کښې‌ئی پای‌ته رسولی دی .

دحبیبی یوسف زلیخانن ورځ په‌کابل‌اوخواوشا کښې‌ئی ډېر شهرت لری دیوسف‌زلیخاله‌نظم نه‌ئی‌علاوه دحضرت‌یوسف (ع) سورت هم تفسیر کړی دی حبیبی د عالمگیر په ستاینه کښې په یوسف زلیخا کښې وائی .

شهنشاه شهنشا هان عـالم — زعالمگیر یش سلطان عالم
جهان‌سالار شهر وشاه‌عالم — سروسردار ملك‌و تاج عالم
ازو اورنگ‌شاهی‌بهرورشد — زنام‌اوجهان بازیب وفرشد

ده په‌خپله‌یوسف، زلیخاباندی د(احسن قصص) نوم‌اینی‌دی. مړینه‌ئی د۱۰۹۰ په‌خواو شا کښې واقع شوی‌ده دخیل کتاب په‌پای کښې وائی .

بحسن وجه‌چون کردم تمامش — بشد احسن قصص‌نام‌گرامش
بقد و چهار ماه وروزك چند — گهرهاجمله‌شدبایکدیگر بند
زتاریخ آنچه‌ازروی شماراست — بسال‌هفت وهشتادوهزاراست
ازین گفتن ندارم فخر بسیار — مبادا کس کندزین گفته‌ام‌عار
اگرچه پخته‌ام حلوای شیرین — چوحلوای نظامی نیست‌رنگین
بسی‌راندم فرس از تیز گامی — نبردم ره بجولا نگاه جامی
خدایا برحبیبی بخش عصیان — بحق‌یوسف ویعقوب کنعان

محمدسلیم افغان: تخلص ئی خانجهان لودی‌دی چه‌دعالمگیر په خدمت اوملازمت کښې‌ئی ژوند کولو . دی یو ځل‌اصفهان‌ته شاه عباس ته ور واستولی شو هلته ئی له صائب اصفهانی سره لیدلی‌دی‌دریاض الشعراء خاوند وائی‌دیوان ئی‌چه‌نژدی‌لس زره بیته‌لرل په‌اور کښې سوی ، اوهیڅ اثرئی ندی پاتی شوی دا دوه بیتونه له‌هغه څخه‌را وړل شویدی :

بیت

نهان تخم مهر بتان‌زاده را — بدل کاشتم‌ازسینهٔ افغان برآمد

مطلع

گر خدا ناخواسته آهن‌شوی آئینه باش
هرچه باشی باش‌اما باصفائی سینه باش

ملاشاه بدخشی : نوم‌ئی شاه‌محمد کنیه‌ئی‌ابوالمجد ملقب په لسان الله بدخشی سره‌دی دافغانستان دیوولسمی پیړۍ دفاضلو عارفانو اوعارفو فاضلانو څخه‌یوتن دی دبـد خشان څخه‌هندته تللی‌دی په‌لاهور کښې دمیان‌شاه‌میر لاهوری‌خدمت ته‌رسیدلی‌دی هم موده‌ئی په‌هغی درگـاه کښې په‌ریاضت کښې تیره کړله‌هوچه په‌سلوك کښې دکمال مرتبو ته ورسیده‌ملاشاه د خیل مر شد له رحلت‌څخه وروسته کشمیر ته ولاړ اودماران‌دغره په لمن کښې یې‌دسلیمان دتخت دباغ په‌مقابل کښې‌مسجد اوخانقابنا کړل چه عام اوخاص خلق پری خوښ شول‌لکه‌چه‌پخپله‌وائی :

کوه ماران بکمر لعل بدخشان دارد
اینچنین بخت کجا تخت سلیمان دارد

په هند کښې دملاشاه دشهرت غږ پورته‌شو . شـاه جهان اود کورنۍ ټول‌غړی یې ده ته معتقد شول .

مولانا علاوه پردی چه‌په دینی علومو اوعرفانی مراتبو کښې کمال ته رسیدلی و ښه شعر ئی هم و یلو . د مولانا په اشعارو کښې مخصوصاً دده رباعیات مشهوراو جالب دی‌لاندنی اشعار دنمونی په‌ډول دریاض‌الشعراء څخه غوره شول .

رباعی

مستانه شدم بصحبت جانانه — جانانه مرادید بمی مستانه
هشیاران‌رابخانه‌رخصت فرمود — پس‌دست‌مرا گرفت‌وشددرخانه

و له

در مدرسه آنچه محبت یاران است
در صومعه آنچه برگرفتاران است
آنگاه که مهر تو گزیدم دیدم
آنها همه کارهای بیکاران است

ملاشاه یوتفسیر هم‌درلود چه په‌پای ته رسولوئی بریالی نشو . یوازی‌د قرآنکریم لمړی‌سپاره‌یې‌دصوفیه وٴ په طریقه تفسیر کړیده .

دملاشاه مړینه ریاض‌الشعراء اوریاض‌العارفین په(۱۰۷۲) کښې ویلی ده مگر لحینی نورئی په (۱۰۷۰) کښې لیکی .

دائرة‌المعارف ۲۰۰۰ جوړ

میرعبدالله : دمیرمحمد نعمان چه په (۱۰۶۰) کښی مړ شوی دی مشر زوی دی دچراغ انجمن خاوند د بدخشان دشاعرانو په لړ کښی دی هم یاد کړی دی دصوفیانو دلویو مشائخو څخه دی به تصوف کښی ئی څینی رسالی هم تصنیف کړ یدی اوشعرونه هم لری دالاندی رباعی دده ده :

رباعی

آزار کسی مکن کـه آنش باشی
شمع دل ونور دیدگـا نش بـاشی
بیمار مـکن تنی کـه جـانش باشی
کم سوز دلی که درمیانش باشی

ضیاءالدین حسین : اصلی مسکن ئی د قطغن دخوست اودهغه ولایت له سادانو څخه دی په اسلام خان سره ملقب اودمیرمحمدافضل ثابت نیـکه دی دهند دمغلیانو په دربار کښی یې د اکبر آباد دنائب سالاری منصب درلود مړینه ئی په (۱۰۷٤) کښی چه عنی کشمیری دهغه تاریخ « مرد اسلام خان والا جاه» میندلی دی واقم شوی .

اسلام خان دموزونی طبعی خاوند و اشعار لری چه دابیت ئی دنمونی په ډول واخستل شو .

وسعتی پیدا کن ای صحرا که امشب درغمش
لشکر آه من از دل خیمه بیرون میزنـد

امانی افغان : دسکینة الفضلا خاوند د نصیرآبادی دتذکری په حواله لیکی چه میرزا امان الله د مهتاب خان خلف دشاه جهان له قدرمنو امراؤ څخه و او په قوم افغان ؤ په تولو کمالانو ښایسته او برابرؤ په تیره بیا په سیاهی گری کښی پلار ئی سپه سالار او په خیله د بنگالی دصوبی خاوند ؤ شعر ئی له لطف نه خالی نه دی او امانی ئی تخلص درلود .

فرد

جان بلب دارد امانی چون چراغ صبحدم
جنبشی زان آستین باید که کار آخر شود

مطلع

غیر پندارد بسر دستار ز ر پیچیده ام
این نه دستاراست دردسر بسر پیچیده ام

و له

بگوای زلف احوال دلم آهسته در گوشش
که چون دردامش آوردی مکن یاری فراموشش

و لـه

هر نفس از گریه میشو یم دل افسرده را
شست وشو از آب حیوان مید هم این مرده را

ربـاعی

بردور جام ما بنو یسید نـام ما
تانام ما بدور بماند زجـام مـا
دوران اگر بگام نگردید گو مگرد
این بسکه دورجام بگردد بکام ما

ابوالـکرم فراهی : دریاض الشعرا په قول فراهی دی خو په شیراز کښی ئی استوگنه له دحال بنکلائی د صلاح په گانه سینگار شوی وه او د شاه سلیمان مغفور له معاصرانو څخه (۱۰۷۷ - ۱۱۰۵) دی داد وه بیتونه له هغه څخه راوړی .

دوش چشمم عکس جاهش رابدل جاداده بود
تا سحر گـاه آفتا بم در نظر افتـا ده بود
درفراق روی او تنها نه دل خون میگر یست
شمع را دیدم که آتش در سرش افتاده بود

دزپښیدو اومړینی نیټه ئی نه ده معلومه .

اعجاز : نوم ئی ملا عظام او په یوروایت ملا عطادی چه په هرات کښی زپښیدلی دی دشاه سلیمان په زمانه کښی اصفهان ته تللی او هماغلته مړ شوی دی په شعرویلو او نثر لیکلو کښی دملاعظام قدرت منلی شوی دی ښه لیکونکی اوویونکی ؤ دالاندی بیتونه ئی دده په نوم لیکلی دی .

مطلـع

رسیدم غافل وجان را فدای یار خود کـردم
نگه تارفت بر تابد عنان، من کارخود کـردم

بیت

باهر که نشینی دم شمشیر جدائی است
میگزار زکف دامن یاری که نداری

ابو نصر نصیرا : نوم ئی عبد الملك کنیه ئی ابو نصر او تخلص ئی «نصیرا» دی د زپښیدلو ځای ئی قندزدی خو بدخشان نه ئی زیات نسبت شوی دی، په ۱۰۷۸ کال کښی مړ شوی ابو نصر توانا شاعر ؤ چه پوره دیوان ئی لرلو ، زیاتره ئی دتیرو شویو شاعرانو غوندی شعر ویلو اوددوی لیا رئی نیولی وه داځو بیتونه ئی دفرخی سیستانی دمعروفی قصیدې به تقلید ویل شوی دی .

چو ابـر بهار رو بـاد خزانی
شد ازدست من روزگـار جوانی
نه آزاده گوش از سرور مغنی
نه ر ستم ز جـام نبیذ مغـا نی
بیاد جوانی کنون تو حه دارم
در یغـا جوانی در یغـا جوانی

بیت

حسن وعشق پاك راشرم وحیا در کـار نیست
پیش مردم شمع در بر می کشد پر وانه را

و لـه

نیك و بد یك جلوه دارد چون بچشم ما نصیر
از کـتاب خـود نشـان انتخـاب انـدا ختیم

و لـه

در گردش فلك دل خود سخت کرده ایم
این‌دانه را شکستگی از آسیاب نیست

عامل بلخی : عامل یاعاملا بلخی دافغـا نستان د یو ولسمی بیړی دلویو او قدرمنو شاعرانو څخه دی . عامل لمړی څه ماموریت درلود خو وروسته ئی ماموریت پر یښودلو سیر او سیاحت ئی شروع کړو . لمړی‌هندته‌اوبیابلخ ته راوګرځیدونو په دغه وخت کښی چه دصائب ا سپهانی شهرت خپور شوی وۀ اواشعاربې کلیواوکورونوته رسیدلیۀ اوبه‌بلخ کښې‌دعامل‌لاس ته هم را ورسیدل نو ځکـه ئی د لید لو دپاره ایران تهٔمخه و کړ ه اوبه اصفهان کښی ئی له صائب سره و لیدل صائب له‌عامل سره لمړی ښه هرکلی (پیش آمد ) ونـه کـړو خوورو سته له‌دی چه دده دفضل او کمال پته ور تـه ولـګیده نوڅانګړې‌خونه ئی دعامل دپاره وټا کله اوخـیل دیوان ئـی دغوره کولو اوښپړ کولو دپاره ور وسپارہ .

عامل یو منتخب دهغه له شعرونو څخه تر تیب کړ او بیـا وروسته هندته لاړ خوځه موده وروسته بیرته شیراز ته راغلو اود (۱۰۷۰ او ۱۰۸۰) په‌منځ کښې هلته مړ شو دعامل اشعار ډیر متین اوپاخه دی خوله هغو ټولو ښـکلیو مر غـلرو څخه بی ددی خوبیتونو څخه نور څه په لاس کښی نشته :

فـرد

نه‌تنها لاله را داغ شگفتن جامه درخون زد
گل ازخندیدنی از عالم دل خیمه بیرون زد

و لـه

حسن عالم سوز را خط مانع رفتن نه‌شد
شعله‌را از دوردرزنجیر کردن‌مشکل‌است

مطلع

دل ازکف داده‌ومن هم زیاران هیتوانم شد
بـګردت میتوانم گـشتو قربان میتوانم شد

مطلع

خوش میدهد ز جلوهٔ مستانه کام خویش
آن سرو دارد آب روان از خـرام خویش

مطلع

عید است میکشان دهن شیشه بازشد
ازماه نو زبـان صراحی دراز شـد

عزت : نوم ئی شیخ عبدا لعزیز لقب‌ئی‌سرفراز اوتخلص‌ئی (عزت) دی . دی‌له خیل وطن هرات څخه لاړ داکبر آبـاد په خلافت ځای (مستقر الخلافت) کښی میشت شو هرکله‌ئی چه‌فضل او کمال عالمګیرته ښکاره شو ده ته ئـی داوه سو یـز منصب افتخارو بښلو خوورو سته په کوم سبب له‌عالمګیرنه خوابدی‌شو لاهورته لاړ اوبه ۱۰۸۰ کښی مړ شو فا ضل سـړی او مقتدر شاعر ۀ دالاندی شعرونه دهغه دی .

مطلع

یك لحظه دل ز ناله نخواهد فـراغ ما
آتش زسنگ سرمه نـگیرد چراغ مـا

مطلع

مجوی راز تجلی ز مست عـالم نـور
کلیم را بگلو سرمه کرد آتش طور

ملامفید بلخی : دلحیزندی ځای ئی بلخ او داستو گـنی اوروزنی ځای ئی‌سمرقند دی په‌هغه ملك کښی‌ئی د خپل علمی مقام له‌مخی احترام درلود اوبه‌عزت‌ئی شپی ور ځی تیر ولـی څوچه له‌هغوخلکو څخه خوابدی شوله هغه‌ځای نه‌بلخ ته راغلو په‌دی وخت کښی چه سبحانقلی خان روی‌کار ۀ دده په ستاینه کښی ئی یوه قصیده جوړه کړه چه‌مطلع ئی داده :

برای آنکه خرامی سواره درگـلزار
تکاور گل بـا دام را کشیده بهـار

دبلخ دهٔاثر په‌قول له هغه څخه‌ئی هم څه‌قدرونه‌لیدل دهندپه لور لاړ اوبه کشمیر کښی میشت شو د عالم گیر مخه ورتـه راوګر ځیده دور شو او ځمکې خاوندشو . څه موده ورو سته ایران ته لاړ اوبه‌مشهد کښی ئی‌گذاره کړی ده‌دوه ځل د هند خواته‌لاړاوبه‌سنه ۱۰۸۵ کښی په‌ملتان کښی‌له‌دنیاتیرشو دمړینی په‌تاریخ کښی ئی سرخوش دکلمات‌الشعراء خاوند ویلی دی .

قطعـه

مرد ملا مفید درملتـان  این‌سخن چون بگوش‌سرخوش‌خورد
بر کشیده آه‌وسال‌تاریخش  گـفت مـلا مفید بلخی مـرد

مفید له‌لویو شاعرانو څخه دی چه په‌هندی سبك کښی‌ئی پوره مهارت خرڅ کړی‌دی اولوړ مقام ته ورسیدو . ددیوان خاوندۀ اوډیر شعرونه لری داغزل ئی له هغی قلمی دیوا نچـی څخه چه‌دشین تر ردیف پوری ده اقتباس شو :

غـز ل

بیتوام رنگ گل ولخت دل پر خون یکیست
پنبهٔ داغ بیاض و دیدهٔ گـلـگو ن یـکیست
هرچه ازساغر کشیدم میکشم ازچشم خویش
گرعبارت مختلف باشد ولی‌مضمون یکیست
نـا زکیهای خیال وحسن ، همـراه تـوانـد
میوهٔ طبع بلند و مصرع مو زون یکیست
آتش یـك مهر، ماه وچرخ را دارد کـباب
دامن پر خون ما ودا من گر دون یکیست
شهرهٔ آفـاق خوا هد سـا ختن آ خر مـرا
شعلهٔ طبع مفید و حسن روز افزون یکیست

دابیت هم دهغه دی .

شاید ز رحم برسر بالین من رسد
خودرا بهانه ساخته بیمار میکنم

عبدالقدوس: دسبحانقلی خان دزمانی له شاعرانو څخه (۱۰۹۱) دی دښه ذوق اوسیلمی طبعی څښتن وٚ کله کله ئی شعر ویلو تاریخی قطعات ئی ډیر راتولول داتاریخی قطعه یې چه دبلخ په مآثر کښی ذکر کړه دمحمود بیګ په ستاینه کښی ویلی ده .

محمود تا اتا لیق شاه یګانه شد
خوش ساعت سعید وعجب وقت نیك شد
در یك یورش دوفتح به یمنش خدای داد
تاریخ آن (دوفتح به محمود بیګ ) شد

سمیع : دبلخ دمآثر په قول په بلخ کښی څیزیدلی اوهمدلته لوی شوی دی د سبحانقلی په زمانه کښی له خپلو سیالانو نه به شعر ویلو کښی یوسړی شو وائی سمیع دبدیع سمرقندی له خوا روزل شوی دی چه دسمرقند لو یو اومعروفو شاعرانو څخه دی چه همدغه بدیع په اخر دعمر کښی بلخ ته راغلی او دلته میشت شوی دی .

څر نګه چه بدیع په بلخ کښی د ادبیاتو بوانځی استاد پیژندل کیدو وروسته له مرګه ئی د بلخ شاعرانو دسمیع استاذی ومنله دمذکرالاحباب خاوندلیکی چه دسمیع له مړینی وروسته دشعر اوشاعری چندان رونق پاتی نشو. ده نظم په اقسامو کښی لکه غزل، قصیده، مثنوی، رباعی اوداسی نور مهارت درلوددالاندی غزل دهغه ده .

( غزل)

بی گریه سرزدل نکشد دود آه من
چون ابر کسی مباد بروز سیاه من
چشمت چو میل سرمه مرا خاك مال کرد
فریاد ازتو دلبر ظالم نګاه من
حال مرادوزلف تو داند ولی چه سود
هستند این شکسته نمایان گواه من
چون شمع گل فشانی من از نشاط نیست
آتش بجای آب چکد از نګاه من
از آفتاب روی بتان سوختم سمیع
روزجزا بس است همین عذر خواه من

ناظم هروی: غلام علی بلګرامی دسرو آزاد څښتن لیکی، چه دی دمعنی ګانو دناطما نو څخه یو غښتلی سړی دی چه دعباس قلیخان دحسن خان زوی په خدمت کښی شامل اولوی اعتبار ئی درلود اوخپل همت ئی خلکوته په فیض رسولو کښی په کار اچولو دده داستعداد برهان دده مثنوی اویوسف زلیخادی چه دخبرواوویښا یوسف ئی له ځا اوزندان څخه را ویستلی او خلاص کړی دی دوچت والی مصرته ئی بیولی په تخت ئی کښینولی دی داکتاب دعورلسو کلونو په موده کښی په سنه ۱۰۷۲ کښی پای ته ورسید دهغه څوبیتونه دادی .

مطلع

خواهم که رخش بدعمل زهد پی کنم
تسبیح تا زیانهٔ گلګون می کنم

مطلع

زسیر باغ و زندان برنیاید کام سودایم
نه شاخ سنبلی برسر نه زنجیری است در پایم

مطلع

کنی تاچند خواب ای مست غفلت نالهٔ سر کن
سرمینای دل بکشاد ماغ دیدهٔ تر کن

بیت

بیالهٔ می ازین شیوه آبر و دارد
بدستگیری افتادگان ز پا منشین

وله

بسکه ازبی اعتباری های خود شرمنده ام
آنچنان سوی تومی آیم که گویامرده ام

قیصرهروی :دهرات داوسیدونکو له جملې څخه دی چه په هروی سره ئی شهرت میندلی دی دحسین خان دربار له شاعرانو څخه دی ښه شعرئی ویلو دالاندی بیتونه نصرآبادی ده ته منسوبوی

بیت

زفیض یکجهتی کامران کو نینم
مراد هر که میسر شود مراد منست

رباعی

قیصر تو اگر ستیزه خو میبو دی
درپیش کسان با برو میبو دی
مردم جایت بچشم خود میدادند
چون عینك اگر کج و دورو میبودی

میربقائی: دی په بدخشان کښی څیزیدلی دی اوله خپل مالوف وطن څخه په ئی اطرافونو او کلیوته تګ کاوه دنصرآبادی دتذکری څښتن لیکی چه اصلا بدخشی خو په تبریز کښی دی اوپه تبریزی مشهوردی طبع ئی له لطف نه خالی نه دی دتبریزد زلزلی په باب ئی مثنوی ویلی ده داځو بیتونه له هغه څخه ولیکل شول .

چه پیش آمد ز مین را وزمان را
که بد می بینم اوضاع جهان را
حوادث باهم از هر گوشه جستند
طلسم خاك را در هم شکستند
سواد دلنشین ملك تبر یز
شدازفرط تزلزل و حشت انگیز

قاضی ابوالبرکۀ قندهاری: دی قندهاری اود طاهر نصر آبادی سره معاصر دی په شعر ویلو تکړه وا و په تیره بیا دمعما گانو په فن کښی ئی کمال خرڅ کړی دی. نصر آبادی په خپله تذکره کښی دا دوه معما گانی دقل بابا اوجاهی په نوم، دده په نوم لیکی

دقل بابا په نوم

چو از دلبر بر آمد آمد آمد
دلی بی پا و بی سر بی خود آمد

دجاهی په نوم

ماه من نادیده قربان ساخت صد مجروح را
ای سهی قد آنچه محتاج نظر نبود نکوست

غبار بلخی: ملامحمد ابراهیم غبار په بلخ کښی لخیزیدلی اوروزل شوی دی دهندلور ته لاړ وروسته بیا ماوراءالنهر ته راغی عبدالعزیزخان خدمت ته (۱۰۵۷) چه دشاهزادگی له وخت نه ئی ورته په نښه ستر گه کتل ورسید دبلخ د ماثر په قول دنوموړی خان په امر دسمرقند په یوه مدرسه کښی په تدریس بوخت شو اوله سمرقند نه بخارا ته لاړ هلته هم تدریس په وظیفه لګیا شو په شعر کښی ئی هم قدرت لرلو نبه بیتونه ئی ویل په ۱۰۹۲ کښی په بخارا کښی مړ شوی دی دالاندی بیتونه ماثر بلخ له هغه څخه راوړی دی :

بیت

بنفشه گرد سرش گشت ومن پریشانم
که این شکسته زبان حرف زلف میگوید

وله

همچون نگین زنام تو پرشد دهان ما
تا نام دیگری نرود بر زبان ما

سودای سوختن ز سر ما نمیرود
چون شمع اگر سفید شود استخوان ما

واصب قندهاری: دقندهار دولایت دیوو اسمی پیړی دښی طبعی اونیکی سلیقی لرونکو شاعرانو څخه دی دنصر آبادی په قول دسلیم تهرانی (متوفی ۱۰۵۷) معاصرو، وزیر عبدالله خان ته، چه په لاهیجان کښی یې استوګنه درلوده، ورغی اوهلته مړ شو. د گلستان مسرت د کتاب خاوند دلاندنی بیت نسبت واهب قندهاری ته کړی دی چه مسلما همدغه واصب و .

گفتم مگر از نامه بخاطر رسم اورا
آنهم ورق جز و فراموشی من شد

نصر آبادی دهغه څخه لاندنی بیت رانقلوی :

در کام اهل ذایقه شیرین نمیشوی
تانشکنی بسان عسل، شان خویش را

وله

نفس زمن بسراغ تودمی در پیش است
نقش با دررهت ازمن قدمی در پیش است
مگذر ای دل بخم کاکل آن زلف سیاه
که بلائی بقفا و ستمی در پیش است

سیدا : آخوند ملا سیدا، دبلخی ماثر بقول، دبلخ دخرم داعرابو څخه دی . سیدا په کوچنی والی کښی د بلخ څخه نسف ته تللی اوهلته لوی شوی دی اوهم دده وفات هم هلته په ۱۰۹۲ هجری قمری کال کښی صورت موندلی دی . سیدا خوږاور نګین شعروایه کلام ئی دذوق څخه تش نه دی . دی یودیوان لری چه تر ۳ زره زیات بیتونه پکښی دی اوقلمی نسخی ئی دذوق د خاوندانو سره موندل کیږی . لاندی غزل ئی دبلخ په ماثر کښی درج دی :

غزل

زرشك خانۀ من کعبه و بتخانه میسوزد
تو در یکخانه آتش میزنی صد خانه میسوزد

تو می باغیر میتوشی و میگردم کبابت من
تو شمع انجمن میگردی و پروانه میسوزد

ترا امروز همچون موی آتش دیده می بینم
کدام آشفته بر تفسیر زلفت شانه میسوزد

نمی ریزد کسی بر آتش بیتابیم آبی
بحالم آشنا می گرید و بیگانه میسوزد

به نیم جانمن ای بیوفا بر من عطوفت کن
تو بر کاه من آتش میزنی و دانه میسوزد

نگاه گرم در میخانۀ ما از که کمترشد
می ازخم تابرآید شیشه و میخانه میسوزد

بیاد آن گل رو سیدا شمعی که افروزی
بگلشن بلبل و در انجمن پروانه میسوزد

فروغی : دبلخ د ماثر په قول دی دبلخ او په اندخوی کښی ئی استوګنه درلوده دخپل تحصیل له بشپړو لو وروسته هند، ته ولاړ او څه موده ئی هلته تیره کړه اوهم هلته په شاه پور کښی په ۱۰۱۹ کال کښی مړ شو دنوموړی د وفات تاریخ په دی ډول موندل شوی دی :

« کرد درسال هزارو نزده از عالم وداع »

یعنی په یوزر او نولس کال کښی ددنیا څخه ولاړ .

فروغی په شعر کښی مفرط ذوق در اود لاندی رباعی دهغه ده :

عشقم که مرا به سر و سامان جنگست
کفرم که مرا ز دین وایمان ننگ است
نی نی منم آن شیشه که از جوش طرب
بر هر طرفی که می نهندم سنگ است

میرزا منصور هروی : منصور یوهر وی المو لد شاعرو او دنصر آبادی په قول دهرات د یوی لوئی کورنۍ څخه وجود ته را غلی دی او د شپو شعر ونو او قو تنا کی طبع خا و ند و . دی په یوولسمی هجری پیړۍ ، په اصفهان کښی مړ شوی دی لاندی شعرونه ئی دده څخه نقل کړی دی :

بسکه محزونم لبم کی خنده نوبر می کند
گریه تا کردم هوس مژگان قلم سرمی کند

✡ ✡ ✡

پس ازواسوختن عاشق نباشد بی تب وتابی
که گر پیکان برون آید ززخم آزارمی ماند

✡ ✡ ✡

زراحت خواستن ها نفس دررنج دوام افتد
چو جوید آب شیرین ماهی دریا بدام افتد

✡ ✡ ✡

درآن وادی که کردم خشك لب عزم زمین بوسی
فرات افشانی زمزم ندا رد قدر محسوسی
شب از پروانه راه انتهای شوق می جستم
کف خاکستری افشاند بردامان فانوسی

✡ ✡ ✡

خاطرم ازوصل آن ابروکمان هم جمع نیست
میکشد چون تیر سوی خود که پرتابم کند

غافل : نوم ئی ملك حمزه او د سیستان دملکانو څخه و . دی دنصر آبادی دمعاصرینو څخه دی اوهم هغه ئی لیدلی دی لکه چه وائی «ملك حمزه می لیدلی دی تخلص ئی غافل دی» غافل په شعر کښی دښکلی قریحی او دښکلی ذوق خاوند و مخصوصا به رباعی کښی. لاندی رباعی دهغه ده :

در آتش هجران بت عهد شکن
درد بده نگاه وبرلبم سوخت سخن
تاگریهٔ من صرف کجا خواهد شد
سرگردانم چوابر گم کرده چمن

ملك ابوالفتح : دی دسیستانی ملك حمزه وروراودیوولسمی پیړۍ دشاعرانو څخه و . په ریاض الشعرا کښی لیکل شوی دی چه دی دهغه ځای دملکانو اوامیرزادگانو څخه و لاندی بیت دده څخه نقل شوی دی :

مطلع
جذبهٔ توفیق می خواهم که از خویشم برد
آنقدر کاز کاروان پس مانده ام پیشم برد

همت بدخشی : نوم ئی میرمحمد عیسی بن میر ضیاءالدین او ملقب په اسلام خان والا، دی اصلی وطن ئی دبدخشان خوست دی نوموړی دهند دمغلو دلو یانو او امیرانو د سلسلی څخه واو به همت خان سره یې شهرت درلود. دی هلته لوړو منصبونو ته رسیدلی او په ۱۰۹۲ کال کښی مړ شوی دی لاندی بیت دهغه دی .

بجز خاری که مجنون داشت در دل
بیا بان جنو ن خا ری ندا رد

همت : نوم ئی، دبلخ دماثر په قول، غیاث الدین او تخلص ئی «همت» یاهمتی او دافغانستان دیو ولسمی پیړۍ دشعراو څخه واودبلخ په سرپل کښی ئی استوګنه درلوده . همت په فارسی ژبه کښی دلوړو شاعرانو څخه دی اوهم داقتدار خاوند دی . ده مخصوصا په رباعی کښی دغر بی مستشرقینو توجه جلب کړېده اوهغو شاعرانو چه ترخیام وروسته دقدر وړدی ، دی ستایلی دی دغسی هم په غزل کښی لوی لاس لری لکه چه جلال الدین اسیر چه دهند په سبك کښی دجلا اوبیل مکتب موجددی دهمت غزلیانو ته پاملرنه درلوده او یوغزل ئی مخمس کړی دی . دبلخ دماثر خاوند پخپله تذکره کښی هوغزل دهغه څخه درج کړیدی چه مونږ ئی یوغزل اقتبا سوو :

هغه غزل چه دجلال اسیر د خوا تخمیس شویدی .

آنچنانم که ملك گمشدهٔ راز من است
صیقل موج هوا خانه بر انداز مـن است
بسکه دلبستهٔ صیـاد شدم پنـدا ری
حلقهٔ دام جگر گوشهٔ پرواز من است
ضعف در پرده به بـالیدن من می کوشد
حرف آینه مگوئید که غماز من است
تابخوددیده کشودم نفس ازیادم رفت
چقدرخون شده دل گوش به اوازمن است
میشود بـال وپر آئینـهٔ راز دلـم
تاخیـال تو درینخانه سخن ساز من است
همت اندیشه ام ازعلم وادب دست تهی ست
هر که ازخود گذردشعلهٔ ممتاز من است

نایبی : اصلا دبلخ ؤ او په شعر کښی ئی لاس درلود . دی سمرقند ته ولاړ. د بلخ دماثر په قول په هغه کال چه نـوموړی سمرقندته ورسید (۱۰۹۵)، محمد ذکریا شیخ الاسلام د خواجه احرار (رح) دمزار سره نژدی یو لوړ تعمیر بنا کړ او دهغه ځای دشاعرانو څخه ددی بناتاریخ وغوښت . شاعرانو مصنعی قصیدی جوړی کړی او خو را متکلف ټوکونه ئی ولیکل . نایبی هم په دی ترڅ کښی یوه سلیسه او ساده قطعه ولیکله او وړاندی ئی کړه . نوموړی خواجه په ټولو تاریخیه اشعارو کښی دنائبی قطعه خوښه کړه او پخپله کتابخانه کښی ئی ضبط کړه ذکر شوی قطعه په لاندی ډول ده :

به‌امر حضرت ایشان عالی عمارت یافت این بنای عالی
برای توی خواجه‌زاده تا یافت عجا یب زینتی آرای عالی
کشاده باددایم چون درفیض برای مهما ن درهای عالی
برای سال تاریخش یکی گفت (مکان خواجه ذکریای عالی)

ادرعی : شاغلی صفادبحراسرار دخاوند دخولی څخه لیکی:

« دبعضو په‌قول دده د زیږیدنی لحای چاریك ( سنگ چارك) دی چه دبلخ دښار دمضافاتو څخه شمېرل کېږی . نو موږی فقیر اوقانع سړی و» دالاندنی بیتو نه د هغه ګډل شویدی :

وافی کاندرجهان همدم نماند از محبت نام در عالم نماند
دیو بدمهری جهان پیمای شد در سلیما ن وفا خاتم نماند
شادمانی ازجهان رحلت نمود در جهان بیوفا جز غم نماند
غنچهٔ شا دی بخون دل نشست صبح‌راسرما یه جزماتم نماند
رفتگان رابر بیاض روزگار جز رقوم لفظ لا اعلم نماند

ولـه

چون سینهٔ محنت زدگـان خا نهٔ داغم
چون نـا لهٔ ماتم زدگـان درد فروشم
سرنامهٔ عالی نظـران را همه چشمم
آ وا زهٔ نیکو سیران را همـه گوشم

زلفی : دماثر بلخ دخا وند په قول، دی دبلـخ د دوآ بـی دکوشی څخه و اوڅه موده‌ئی په‌زده کړه کښی صرف کړی‌ده. ده یوه موده په‌فرغانه اوبخا را کښی تېره کړې ده .

نوموړی په شعر اوادب کښی دمشفقی مروزی یـا بخـاری (متوفی ٩٩٦) د شاګردانو څخه ګډل شوی دی . گـو ا چه زلفی دیوولسی پېړی دشاعرانو څخه شمېرل کېږی . لاندنی بیتونه دبلخ په‌ماثر کښی دهغه په‌نامه لیکل شوی‌دی :

شا هـاستم بحا ل گـدا میکنی مـکن
یعنی مرا ز خو یش جدا میکنی مکن
آن زلف را بدست صبا مید هی مـده
هر دم هزا ر فتنه بپـا میـکنی مکن

واقف بلخی : نومئی میرفخرالدین بلخ‌وال اودبلخ دساداتو څخه‌دی . دبحرالاسرار دخاوند په قول، ( ده‌شیخ) چه د بقلان (بغلان) دکلیو څخه‌دی په هغه پوری مر بوط وٶ. ده یـوه قصه د(زهرا داشیتر)په نامه نظم کړی ده اوڅه موده ئی په بغلان کښی شیخ الاسلامی هم در لوده . لاندی تـوك دهغه دی :

مرگ نیکو تر بود ازغم دل بیـتاب را
هر که‌را رنجی رسدراحت شمارد خواب‌را
گرچه‌سوزن‌سر به پیوند کسانت آرزواست
بایدت خوردن بسان رشته پیچو تـاب را

ولـه

بکام دل نفسی بـا نو آشنا نـه نشستم
که‌دل زصبرو من ازعافیت جدا نه‌نشستم
شبی که‌شعلهٔ هجرتو سر زد از دل زارم
چو شمع تاا ثری‌داشتم‌زپانه نشستم

حارثی : دبلخ دماثرخاوند ، پرته‌له کوم‌مستند تذکر، لیکی چه دی دیو و لسمی پېړی دشاعرانو څخه دی . نو موږی په بلخ او بخارا کښی په تحصیل او زده کړه بوخت و او اخیراً هندته ولاړ اوله‌څه مو دی وروسته هلته مړشو. لانـدی‌رباعی دهغه‌ده :

رباعی

یارب من‌تشنه‌جام خون چند کـشم
نازوستم چرخ نـگون چند کـشم
ازبهر دولقمهٔ کـه هـم دادهٔ تست
من منت هرناکس ودون چند کشم

مولاناصفا: نوموړی‌هم‌دیوولسمی هجری پېړی دشاعرانو څخه‌دی اودمحمود کـتابدار په‌بحر الاسرار کښی دده‌څخه‌ذکر اویادونه‌شوی‌ده . ده‌یوه مثنوی دنظامی دمخزن‌الاسرار په‌څېر هم‌درلوده او نوری‌قصیدی ئی هم‌ویلی‌دی -لاندی‌توك دهغه‌دی :

شبی که‌چشم‌ازو کـامیاب می گردد
سحر به‌گرد سرم آفتاب می گردد
بوقت‌دیدن اواشك نیست درچشمم
نظاره است که‌ازاشك آب می گردد

بیاضی: دبلخ‌به‌ماثر کښی داسی ذ کـر شوی دی چه بیاضی یوقلندرمشرب‌سړی‌وٶاوهمداوجه‌ده چه‌د«لیونی‌بیاضی» په‌نامه‌یې شهرت‌موندلی‌دی . اصلی‌نوم‌ئی نه‌دی‌معلوم دیوولسمی پېړی په‌اواسطو کښی ژوندی‌و .لاندی مطلع دده‌څخه ذکرشوی‌ده :

ای‌زشانه زلف‌رامیل عنبر افشانی
زلف عنبر افشانت مـایهٔ پریشانی

عطار: دبلخ دماثر په‌قول دی دبلخ‌و اودیو ولسمی پېړی په‌اواسطو کښی‌یې ژوند کـاوه‌اودبلخ‌په‌ښار کښی‌ئی‌عطاری کوله او کـله کـله‌ئی شعرهم‌وایه لاندی رباعی دبلخ په ماثر کښی دده‌په‌نامه لیکل‌شوی‌ده :

ای گشته خجل آب حیات ازدهنت
سرو ازقدومه ازرخ وسیم ازبدنت
صاحب‌نظری کجااست تـادرنگرد
صد یوسف مصر در دل پیر هنت

علمی: نومئی‌میرچوچك اودبلخ‌دسرپل اودهغه‌لحای‌دسیدانو څخه‌و. دی‌داشترخانی دشا عرانو دزمانی‌څخه واوپـه‌یوولسمی پېړی کښی‌ئی ژوند کـاوه . په شعر کښی‌ئی دطبـع قوت‌درلود

لاندی غزل دده‌دی چه‌دبلخ په‌ماثر کښی ذکر شوی‌دی :

غـزل

نکتهٔ‌سرلبش را ز کسی کن تحقیق
که‌نکو یافته‌باشدخبر از کـان عقیق
قدرزلف‌تو بدانند کسانی که‌نکو
کرده باشند عبارات مطول تدقیق
نتواند چوخط تو بنوشت ار نکند
نسخهٔ خط ترانسخ نو یسان تعلیق
شوخ‌چشمی که‌تصور نکند مهرووفا
کی کـند حال‌دل‌زار اسیران تصدیق
علمی ازحادثهٔ دهرامان گر خواهی
ازخدا خواه کـه الله ولی التوفیق

میرباهر: دمیرچوچك علمی وروردی داستر خانیانو په‌زمانه

کښی‌یې‌ژوند کـاوه په‌شعر کښی‌ئی‌دخیل‌ورور په‌شان لاس‌درلود اوداستعداد خاوندو لاندی غزل دده دی :

غـزل

بشام غمت دو د آهـی کـه دارم
ازا ن است روز سیاهی که دارم
به دعوی عشقت چنـان سر بلندم
که‌برعرش سـا ید کـلاهی که‌دارم
نهم‌پشت طاعت بـد یوا ر هجـرت
همین است پشت وپناهی کـه دارم
زبیداد خوبان بـه دا د دلـم رس
توئی درجهان پادشاهی کـه دارم
طریق وفا پیشه کـر دم چو باهر
همین‌است سوی توراهی کـه دارم

بیکس: والهٔ داغستانی د ریاض الشعـرا خاوند ، نوموړی دمحمدحکیم‌میرزای‌صفوی دملازمانو څخه‌بللی‌دی اووطن‌یې‌غزنی بولی. لاندی‌بیت‌ئی‌دهغه په‌نامه لیکلی‌دی :

زهجرسو ختم ودم نمیزنم که‌مبـاد
زنا امیدی من غیر امید وار شود

ادا : دبلخ دسنگچارك راوځه‌موده‌ئی‌به‌جلاوطنی‌او پردیسی توب تیره کړې‌ده دی په۱۰۸۲ کال کښی سمر قند ته راغی اودځه‌مودی دتیر ولو نه وروسته ددوهمی پلا دپاره خپل وطن‌ته راغبرگـ شو اودهغه‌ځای نه‌هندته‌ولاړ څه‌موده‌ئی‌په کابل کښی هم‌تیره کړه اوپه‌دغه مخکه په۱۱۰۲قمری هجری کال کښی ئی داجل‌داعی‌ته لبیك‌ووایه ده‌په‌شعر کښی ښه طبع در لو ده اودی پخپله‌خوش‌معاشرت اوخلیق وٌ لاندی دوه بیتونه دهغه‌دی :

هرغزالی‌راکه‌می بینم‌شکارش می‌شوم
درخور نازسیه مستان نیازم داده اند
شهیـدم بـه شمشیر عـر یـان قسم
غـر یبـم بـه شـام‌غـریبـان قسـم

مولاناحسن‌علی هـروی : دافغانستان دیوولسمی پېړۍ‌ په دپیاوړو اوذوق لرونـکو شاعرانوڅخه‌و .دوالـهٔ داغستانی د ریاض‌الشعرا په قول ، تقی اوحدی لیدلی‌و . ده هند او ایران ته سفر کړی‌خوش‌صحبت اودډیوش‌مسلك سړی‌و.ښه‌اولوړشعرونه‌یې ویل . لکه‌چه‌تقی اوحدی دیوو لسمی‌پېړۍ‌ دتذکره لیکونکو څخه‌و چه خپله دعرفان العاشقین تذکره‌ئی‌په۱۰۲۴ یا ۱۰۲۲ تالیف کړې‌ده نوپه‌دی لحاظ مولانا حسن‌علی هروی دیوولسمی پېړۍ‌دشروع کـېدو دشاعرانوڅخه‌دی‌لاندی ابیات‌دریاض‌الشعرا خاوند دهغه بولی :

غـم هجـر ان آن سرو قبا پوش
گرفته‌چو ن قبا تنـگم درآغوش
چنان باتلخکا مـی خو گـرفتـم
که کردم جان شیرین را فراموش

زمانه پـر صـدای کو س رحلت
دل ما را زغفـلت پنبه درگـوش
فلك باصد هزا ران دیده حیران
بـکار ما وما درخواب خـرگوش

وله

ماندنشان بران گـل‌روی‌ازنگاه‌من
وندر دلش اثرنـکند سوز آه من
دست تهـی وبخت سیه یار بیوفا
یارب کسی مبـاد بروز سیاه من

ملك شاه‌حسین‌عتاب‌سیستا نی : ریاض‌الشعرالیکی‌چه‌ده‌پېړه نبکلی طبع درلوده اودکمال خاوندو تقی اوحدی لیدلی و او دهغه‌په‌باره کښی‌یې‌لیکلی‌دی چه‌د تحفة‌العارفین‌په‌تقلید یوه‌مثنوی لری اویوه تذکره یې‌هم لیکلی ده دهغه‌د کلام نمونه داده :

دریا نه که‌عالمی پر ازموج گاهی بحضیض وگـاه براوج
گـشتی نه کـه دوزخ فشرده تـابوت یك و هزار مرده

ملاوارثی سبز واری : دسبزواردی . هندته‌تللی بیاوطن‌ته راغبرگـشوی اوموزه‌دوزی‌ته‌یې‌اقدام کړی‌دی .در یاض الشعرا په‌قول دپخوانیو او متاخر ینو ډېر شعرونـه ئی په‌یاد درلودل اوده پخپله هم‌شعر ویل تقی اوحدی اصفهانی لیدلی و . لاندی بیت دهغه دی :

چه بیدردانه آهی میکشی ای‌وارثی هردم
توعـاشق‌نیستی بیهوده رسوامیکنی‌خودرا

رضای هراتی : دی دهرات اودسیدمعصوم‌علیشاه دمریدانو څخه‌و نوموړی‌سیدمعصوم‌دیوولسمی‌هجری‌پیړی‌دعرفاؤ څخه و. په‌ریاض العارفین کښی‌داسی لیکل شوی‌دی «کوم وخت‌چه سید معصوم علیشاه او نور علیشاه هرات ته راغلل دنو موړی سره مخامخ‌شول اودده دروزنی‌دپاره‌یې کوښښ‌وکړچه‌په‌نتیجه کښی دی‌لوړو مرتبوته ورسیداو به رضا علیشاه سره‌یې‌شهرت‌وموند» دالاندنی‌بیت‌نسبت ، هغه ته کیږی :

سرو سر دار جهانم تن تنها یاهو
فارغ از کون ومکانم‌تن تنهایاهو

عالم بیگ : دافغانستان دیو ولسمی پیړی دشاعرانوڅخه یوتن او دکابل دښارو تخلص‌ئی د ځینو له‌خوا «سروری» ویل شوی دی حال‌داچه دزمانه بیگ بن‌میرزا غیوربیگ تخلص هم سروری و . دی دجهانگیر په فوځ کښی په خدمت بوخت و . ریاض‌الشعرا ، خزانهٔ‌عامره اوسکینة الفضلا لاندنی ابیات دده په‌نامه ثبت کړی دی :

من مست ساقیم نشنا سم شراب را
بلبل نیاز مند نباشد گلاب را

مطلع

لطف ودشنام توتسکین دل بیهوش است
آتش ازآب چه گرم وچه‌خنک‌خاموش‌است

بیت

تودرکنار من‌ومن زشوق می میرم
مگر کنار من ازمن هزارفرسنگ است

مطلع

ازلب لعلش خط زنگار گون آمد برون
حیرتی‌دارم کزآتش سبزه‌چون آمدبرون

مطلع

نفس بستم ولی از رنگ بوی‌ناز می‌آید
فغان زین‌برده کزوی‌نغمه‌بی آوازمی‌آید

ربیعا : دبلخ دماثر په‌قول دی دیوولسمی پیړی دشاعرانو اودابواسحق شوکت‌بخاری دشاگرد انو څخه‌دی. شوکت دازاد بلگرامی سره معاصرو . دربیعا تخلص هم داستاذ د خوا خپل شاگردته خوښ شوی دی . ربیعا دخپل عمر ډیره برخه د خپل استاذ سره تهره کړی ده او په سفر اوحضر کښی‌دهغه سره یو ځای‌و . لاندی‌بیت د هغه دی :

مطلع

رفتی ورنگ و نشاط ازبوستان گل‌برید
رنگ گل چون عندلیب ازآشیان گل‌برید

## دافغانستان د دولسمی پیړی شاعران :

ارشد : میرزا محمدارشد بن‌خواجه علی‌اکبر بن‌محمدهاشم بن‌محمدطاهر بن‌جلال‌الدین‌ارشد بن‌سراج الدین علی‌حجازی ، هرات‌والی‌دی چه‌په۱۰۲۵ کال دهرات په‌برناباد کښی‌زپېزیدلی اوهلته روزل شوی‌دی په ادبیاتو کښی استادو اولوی لاس‌ئی درلود لاندی غزل دده دی :

غـزل

پیش‌ازین ماهم برین در آبروئی داشتیم
وزبهارفیض چون گل رنگ‌وبوئی‌داشتیم
سالها در شیوهٔ اخلاص و آیین نیاز
جبهه را آئینه دار خاك کوئی داشتیم
رهزن سرچشمهٔ ما هرخس وخاری نبود
آب خود را متصل ماهم بجوئی داشتیم
از نشاط التفات ساقی خود میز دیم
جوش صدمیخانه ازمی گرسبوئی داشتیم
ساغر ما گر چه خالی بود ازمی متصل
از نشاط طبع ومستی های وهوئی‌داشتیم
این‌زمان‌چون‌خارمحرومیم‌ازگلزار لطف
خاطر ماخوش که وقتی‌رنگ‌وبوئی‌داشتیم
غنچه گر برروی گل‌خندید ارشد چون‌نسیم
در فضای باغ ما هم جستجو ئی داشتیم
(دارشد عنوان ته دی مراجعه وشی )

جودت : عبدالحکیم ولواجی رستاقی دچراغ انجمن‌خاوند، دی‌دبدخشان دشاعرانوڅخه بللی اونوم ئی‌میرزا محمدایوب‌بولی جودت پخپله‌خوانیږ کښی‌دعالمگیرپه زمانه کښی‌هندته‌لاړاودکن ته‌ورسید او دعالمگیر دصاحبمنصبا نو په سلك کښی منسلك شو اوبیا په۱۱۲۵ هجری کال کښی مړ شو . ده په شعـر کـښی قوت درلود اوښه شعرونه ئی ویل لاندی ابیات د هغه په نامه ثبت شو یدی :

بیت

بود حلاوت تن پرو ران زطول امل
ثبات هستی شان پای‌بند این‌تاراست

☆ ☆ ☆

زرجعت بیشتر باشدصلابت‌خا کساران را
زبالا سوی‌پستی‌هر که می‌بیند هراس‌آید

مطلع

دلی‌دارم که‌داردخارخار ازیاد گیسویش
برنگ خار ماهی شانه می‌روید زپهلویش

دائرة المعارف ۲۰۰۰ جلد

کامل : نوم ئی محمدعلی اوتخلص ئی کامل او دزېښېدنی ځای ئی دبدخشان دجرم بهارك دی . نوموړی دافغانستان ددولسمی پیړۍ د شاعرانو څخه دی . ده د زده کړی دپاره لږی بخارا اوبیا هند اودچین تر کستان ته سفر و کړ . نوموړی تدریس کاوه اوله درس ویلووروسته یې کرهنی ته توجه کوله اوپه دی وسیله یې ژوند کاوه . ده سر بیره پرادب اوخط دفلسفی څخه هم بشپړه خبرتیا درلوده اوبه علم النفس کښی یې هم یوه رساله تالیف کړېده اشعارئی پاخه اورنګین دی . ده په ۱۱۳۱ کال کښی وفات موندلی دی لاندی غزل ئی دنمونی په توګه دلته ثبت شو :

غـزل

از بنـه اگر حل مرا دات پسندی
شرکی است که برقبلهٔ حاجات بمندی
و یرانهٔ جاوید بود کـعبه و مسجد
از ناخلفی چو ن تو خرابات پسندی
عالم همه معمورهٔ دست تو توان بود
برخویش اگـر زحمت اوقات پسندی
کـفراست بهر بام ودری سجده نمودن
تاکی بچنین جهل خرافات پسندی
نتوان زکسی بدگهر امید وفا کرد
ازسحر چه امکان که کرامات پسندی
کامل بره صدق زاثبات طـریقت
بسیار توانی کـه مباهات پسندی

عبید : نوم ئی خواجه عبیدالله او اصلا د بلخ دی دی دهغه ځای دعرفا اولویانو څخه و چه دعلم اومعرفت اوطریقت دتحصیل دپاره یې دپرسفرونه کړی اوالتمس واره حج ته ولاړ او په ۱۱۳۰ کال کښی بیرته خپل وطن بلخ ته راغبرګ شو مګر د داخلی اغتشاشاتو په نسبت بیاهند ته ولاړ څه موده په کشمیر کښی پاته شو او په ۱۱۳۷ کال کښې یې بحرین ته عزیمت وکړ او په ۱۱۳۹ کال کښې یې په مدینه منوره کښی دې تهریدو نکی دنیا ته وداع ووویله . دی په شعر اوادب کښی دکافی قدرت اوښه مهارت خاوندو لاندنی غزل ئی په ۱۱۳۷ کال کښی دبحرین څخه محمداعظم نامی ته چه د کشمیر دواقعاتو مولف و ، ورولیږه :

غـزل

زهر گلی که وزد بوی او بشامهٔ من
زشامه دور نسازم کـه شد شمامهٔ من
بسو زن مژه از تـار های اشك رخم
خیاطهٔ ازلی بخیه ز د بجـامهٔ من
زهر گلی که ازو بوی او بمن نرسد
زشا مه دور نمایم کـه شد غـمامهٔ من
زچـار موجهٔ طوفان نوح بـاکم نیست
چو بـاد شر طه شود قـائد سلا لهٔ من
به کشتی که خدا ناخداست رفته (عبید)
رسـد به کـعبهٔ مقصود حج عامهٔ من

میرزا صالح شهادت : دداغستانی والا په قول، دی دبلخ په سیمه (سنګ چارك) کښی زېږېدلی؛ پوه اوفاضل سړی و . نوموړی په ۱۱۵۰ کال کښی وفات موندلی او دشبرغان په کلی کښی ښخ شویدی . ده خیل و ختو نه دشعر د و یلو د پاره وقف کړی اوښه شعرونه ئی ویل. لاندی بیت دده دی :

سروخیزد بیدمجنون لاله روید سر نگون
درگلستانی کـه نخل بخت من گـل میکند

ثابت : میر محمد افضل ثابت د دولسمی پیړۍ د عار فو شاعرانو څخه و . دی دبدخشانی اسلام خان والا زوی اودهمت خان ور اره دی چه دهند په اله آباد کښی زېږېدلی او ځکه په اله آبادی یې شهرت موندلی دی دی لږی دمروجه علومو په تحصیل کښی بوخت و اوبیائی شعر اوادب ته توجه وکړه . ښه شعرونه ئی ویل اویو دیوان ئی هم جوړ کړ دخینو په عقیده دی په ۱۱۵۰ کال کښی مړ شوی دی مګر ریاض الشعرا والئی چه په ۱۱۵۱ کال کښی وفات شویدی . غلام علی آزاد بلګرامی چه دخزانه عامره او سروآزاد خاوندی ، په لاندنی ټوك کښی دده د مړینی نېټه ۱۱۵۱ موندلې والئی:

استادزمان که کـرد تعلیم — اعجاز سخن به کلك صامت
تاریخ برا ی رحلت او — فرمودخرد ( رحیل ثابت)
۱۱۵۱

لاندی ابیات دده داشعارو څخه انتخاب شول :

بیت

با آ نکه دختر رز سنګدل نبو د
درحیرتم که توبهٔ مستان چسان شکست

☆ ☆ ☆

چوآن طفلی که از گلزار سوی خانه می آید
گـل داغ جگر اشك مرا دردامن است امشب
شکستی توبه شیخ و خمار می پرستان هم
برقص ای جام ازشادی که بشکن بشکن است امشب

☆ ☆ ☆

بلعلش میرسد تاآرزوی بوسه می میرد
خط نارسته گویازهر پنهان در دهن دارد

قبول : میرزا عبد الغنی قبول اصلا رستاقی دی او په کشمیر کښی زېږېدلی دی . دآزاد دلیکنی په اثر ، دی دمیرزا داراب جویای کشمیری شاګرد و او په شاه جهان آباد کښی میشت و په شعر کښی ئی مهارت اولوی لاس درلود اوښه شعرونه ئی ویل .

دی یودیوان هم لری . نوموړی په ۱۱۳۹ کال کښی مړ شوی دی .
لاندی ابیات دده دی :

میشود برمن قیامت قائم آنساعت که من
دیگری درحشر بینم داد خواه ازدست تو

✡ ✡ ✡

قلم برخاست بنویسد جدیثی ازسرا باش
بحرف قامتی اوچون رسید آهی کشید آنجا

حشمت : نوم ئی میرمحتشم علی اودبدخشان د سیدانو څخه و.

دی په هند کښی ژبښ پدلی اوهلته لوی شوی دی . حشمت په شعر او شاعری کښی بشیر استعداد در لوداو لکه یې په زړه پوری اوپاخه شعرونه وېل . ده د اوه زرو بیتونو په شاو خوا کښی یو دیوان هم درلود . وفات ئی ورو سته تر (۱۱۵۰ کال) صورت موندلی دی لاندی اشعار دهمه دی .

شب چنان بیکسی ام سوخت به کویت که زدرد
دل سنگ آب شد و صورت دیو ار گرفت !

✡ ✡ ✡

بار قیبان نکنم سجدهٔ خاك دردوست
این نمازیست که ی شرط جماعت باشد

✡ ✡ ✡

گر نیست عاشق رخ خوبان دوچشم من
ازبهر چیست دیدهٔ نمناك شیشه را

✡ ✡ ✡

کاکل و زلف خطش دست بهم تا ندهند
جمع کی میشود اسباب پریشانی ما

ابراهیم فرخاری : حلیفه ابراهیم اصلا دبد خشان د فرخار دکلی څخه دی ، په ۱۰۸۷ کال کښی په شاه جهان آباد کښی ژبښ پدلی اودمیرجلال الدین حسین بدخشی دروزنی په اثر د عرفانی لوړو مرتبوته ورسید . دیوه شمیر زیاتو تالیفاتو او تصنیفاتو نسبت هغه ته کیږی .

په ادب کښی ئی هم لاس درلود . دشپږو زرو بیتونو یوه مثنوی ئی هم منظومه کړ پده . په ۱۱۶۵ کال کښی وفات شوی دی . لاندی خو بیته دده مثنوی لخی دچراغ انجمن نه نقل شویدی:

ماو من گفتن هم از امرت بجا است
ور نه ما را این قدر قدرت کجا است

روح من باجان و جان اندر تن است
هرچه می گویم نه از گفت من است

گفت نی باشد ز نائی در نهان
لیك از نی بشنو ند اهل جهان

بهتر از نی نیست کس باراز جفت
هر که چون نی گشت خالی راز گفت

ثبات : میرمحمد عظیم ثبات دمیرمحمد افضل ثابت بدخشی خلف دی چه دخپلو پخوانیو په شان ئی دخپلو پخواو خوږواشعارو په واسطه فارسی ادب ته زینت اوښکلا ور کړ پده . ده د خلورو زرو بیتونو په شاوخوا کښی یودیوان هم درلود . په ۱۱۶۲ کال کښی مړ شویدی لاندی بیتونه دده دی :

چون شمع تا فتاد به بزمت گذر مرا
از اشك وآه زند گی آمد بسر مرا .

✡ ✡ ✡

دست بیطاقتیم حیف که از کار افتاد
جیب شد پاره ولی حسرت دامن باقی است

✡ ✡ ✡

جز محفل تصویر درین باغ ندیدیم
بزمیکه کسی را به کسی کار نباشد

معجز افغان : نظام الدین یا محمد نظام معجز د دولسمی هجری پیړی د شاعرانو څخه او اصلا دکابل و . ده په شعر کښی خاص قدرت درلوداو په شعر کښی یې د میرزا جلال اسیر د سبك پیروی کوله دی دژوند په پای کښی په ستر گو پروند شو او په ۱۱۶۰ کښی د دنیا څخه ولاړ دده څخه لاندنی ابیات نقل شوی دی :

ترا بلا د ستم گفته ایم و می ر نجی
د گر بگو که ترا بیوفا چه مینا منند

✡ ✡ ✡

در گریه ناله ها که بکو ی تو می کشم
فریاد می کنم که مرا آب می برد

بایدووېل شی یوشمیر شاعران شنه دی چه د دوی د ژبښ دنی اووفات نیټه دموثوقو اسنادو له مخی نه ده معلومه، مگر د دوی نومونه د ریاض الشعرا په تذکره کښی ذکر شوی دی اوهر نگه چه داتذکره په ۱۱۶۰ هجری قمری کال کښی تالیف شوی ده نو دوی پخوا د دغی نیټی څخه ژوندی وو په دی لحاظ د دوی څخه دلته یادونه وشوه:

اسلام بلخی: اسلام د بلخ د شاعرانو څخه و چه هلته ئی پاتې اوروزنه شوی وه. ده شعرهم وایه لاندی شعر والا د هغه په نامه ضبط کړ یدی .

نه نار عمر محکم و نه تار د و ستی
افسوس زین دو رشته که بسیار نازك است

امید: تخلص ئی میرزا نیازی ده د بلخ په بنبار کښی سر پورته کړی دی. په شعر کښی د ملاشهادت شاگرد ؤ اوهغه موده د بلخ د بنبار د دیوانی په وظیفه بوخت واود ۱۱۵۵ کال په شا وخوا کښی مړ شوی دی مگر صاحب ریاض لیکی چه تردی خو کا له وروسته په (۱۱۶۰) کال کښی یې وفات موندلی دی . لاندی ابیات دهغه دی:

تا گشت شمع روی تو از ا نجمن جدا
پروانه در فراق جداسوخت و من جدا

هر یك زیادزلف ورخش می خورند خون
ریحان جدا بنفشه جدا یاسمین جدا
ازیك کرشمهٔ که تو کردی بکوه ودشت
مجنون جدا هلاك شده کوهکن جدا

☆ ☆ ☆

دربهار نشهٔ آب ازچشم تربارید ه ایم
زین سبب سبزاست سروگردن مینای ما

☆ ☆ ☆

گرشیشه امید بسنگ افتد چه باك
گرددزسنگ شیشهٔ امید ما درست

مولا باطنی: اصلادبلخ ؤ اوهلته پی ژوند تیراوه. په ریاض الشعراء کښی مذکور دی چه دتوکل په زاداود اخلاص په قدم دبیت الله په زیارت مشرف شو. لاندی مطلع دده ده:

مطلع

بسکه داری تنگدل ای غنچهٔ خندان مرا
جان زدل آمد به تنگ ودل گرفت ازجان مرا

جامی هروی: مولانا جامی هروی دهرات دښاردفقیر مشربانو او آزادگانو څخه و. ده حضرت شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاری دروازی ته دنیازاوهیلی سر، کښته کړی، او هلته پی جارو کښی کوله. لاندی بیت دهغه دی:

صدره سرم بخاك تو گرخاك در شود
کی شوق پای بوس تو ازسر بدر شود

جلال هروی: شیخ جلال هروی دهرات په ښار کښی استوګنه درلوده اودصوفی مشربانو څخه و. دی د ترکانو او ازبکانو دلاسه دهرات څخه بخارا ته ولاړ او جلاوطنی پی اختیار کړه. شیخ جلال په شعر اوادب کښی لاس درلود. لاندی دوه بیتونه دهغه دی:

هر کس که چومابند عزیزان نکند گوش
بسیار بخاید سر انگشت ندامت.
هرشب که جلال از غم دل آه برآرد
سکان سماوات بسنالند تمامت

ملا حمید منجم هروی: آزاد مشرب سړی وو. دی حده پوری چه دلیونتوب نسبت ورته کیده ده د شعر طبع درلوده او دادهغه سره ښه ایسیده:

مطلع

هر کس که نیست زنده بعشقت هلاك به
درهرسری که نیست هوای توخاك به

حافظ مزاری: نوم ئی عبدالمومن واودمزاری حافظ په نامه پی شهرت درلود. دی دخواجه عبدالله انصاری مریداوهم دده دمزار مجاور ولاندی بیت دهغه دی:

گلی کش سالها چون غنچه پروردم بخون دل
ازوجزخار نو میدی دگر چیزی نشد حاصل

حسن قندهاری: خواجه حسن د قندهارد ښارو په دولسمی هجری قمری پیړۍ کښی ژوند کاوه ده په شعر کښی ښه لاس درلود اوښه شعرونه ئی ویلی لاندی رباعی دهغه ده:

ای ماه رخت شمع شب تار حسن
خارغم تو در دل افگار حسن
دورازتوحسن افتاده بر بستر غم
که بجز غم نشود مونس و غمخوارحسن

میرحمدی سیستانی: مجذوب الحال و، لګی پښی او لږ سر اوږدیس په ښارونو اوملکونو کښی گرځیده اوباخه او خوازه اشعارهم دده دطبع څخه راوتل لاندی ابیات دهغه دی:

بیزارم ازآن سر که درو درد سری نیست
دلگیرم ازآن دل که زعشقش اثری نیست
قاصد ندهد مژدهٔ وصل از طرف یار
کین ذوق نصیب دل خونین جگری نیست
از آتش دل همه ی حذر ی کن
هرچند که آه دل او را اثری نیست.

حافظ سیستانی: دی دسیستان اوددولسمی هجری پیړۍ دشاعرانو څخه و. لاندی مطلع دده ده:

افسوس که حسنت ای جفا جو ی نما ند
وان جعد سیاه عنبرین مو ی نما ند

خاوری: مولانا خاوری دهرات دښاروچه هلته روزل شوی اوپالل شوی و. که چه هم فقیر مشرب اودعلم په زده کړه یوخت ؤ خو په شعر کښی بی هم لاس درلود اوښه شعرونه بی ویلی دابیت دهغه دی.

نمیخواهم که برگیردصبا از کوی او گردی
مبادآن توتیارا افگند در چشم نامردی

میرزازی: په ریاض الشعرا کښی لیکل شوی دی چه میرزازی دزمانی د مستعدو عناصرو او دهرات درفیع المقدارو ساداتو څخه و. ده دا کثرو علومو څخه برخه درلوده اوهم ئی په موسیقی او شطرنج کښی لوی لاس درلود لاندنی ابیات تو نسبت هغه ته کیږی:

قدم هرکو دزین میدان نهاد ازپا فتاد آخر
دلا تا کار ما سر بر کجا خواهد نهاد آخر

☆ ☆ ☆

شوق دیدار تو کرد از دو جهان فرد مرا
روی دل از دوجهان سوی تو آورد مرا
دردم ازعشق تو بگذشت وز درمان هنوز
فارغ از درد منی میکشد این درد مرا

مولانا سلامی : شاه محمد سلامی دهرات دښار ؤاو هلته یې دور پښمو کارکاوه په شعر کښی ئی هم لاس درلود لاندی ټوک ده دی:

می شدم در طلب یارو نمی بر سیدم
خبرش را ز کسی تا که نگو ید دیدم
هر کجا پا فتم از نعل سمند تو نشان
تا نه بیند دگری روی بدان ما لیدم

سر شکی : دکابل د ښار د نامتو وګړو څخه وځرنګه چه داوښکو اود اوښکو تویولو سره یې مینه درلوده نو سرشکی تخلص ئی خوښ کړی و. سرشکی په شعر او ادب کښی لائق اوماهر و اوښه شعرونه ئی ویل: لاندی ابیات دهغه دی :

بخون خلق دلیراست زانکه در محشر
بیك کرشمه به بندد زبان دعوی را

☆ ☆ ☆

غبار آسافتادم دررهش امازدامانش
همان دست تمنائی که کوته داشتم دارم

☆ ☆ ☆

درین افتادگی گر کس نگیرد دست من شاید
کسی چون پرتو خورشید را ازخاك بردارد

☆ ☆ ☆

من واندیشهٔ وصلی که بصد عمردراز
دست اندیشه بدامان خیالش نرسد

شهلا : نوم ئی سنګین بیګ او تخلص ئی شهلاو په بدخشان کښی ژوند یې کاوه؛فاضل سړی وو او په شعر اوادب کښی یې مهارت درلود دی هندته تللی او به ګجرات کښی اوسیده لاندی رباعی دهغه ده :

رباعی

چون باده بطبع یار وچون شهد بکام
چون سر مه بچشم خوب وچون گل بمشام
چون خنده بلب بگو و چون قد بخرام
در روز نشان مهر و چون ماه بشام

شرف الدین فراهی : واله داغستانی دریاض الشعرا خاوند لیکی چه امام شرف الدین محمد بن محمد الفراهی دکما لاتو جامع اودښه ګڼو خاوند و . لاندی ابیات ئی دهغه لیکلی دی:

درخم آن دو زلف یکتاش خوش است
زیرا که نظر درر خ زیباش خوش است

رباعی

یادم نکنی ازان بغر یاد آیم شاید که زبند هجرت آزاد آیم
درهم شده وشکسته چون زلف توام درزلف نگرمگرمنت یاد آیم

شمس الدین بدخشانی : واله په ریاض کښی ددوه بدخشانی شمس ځخه (یوشمس الدین اوبل بدخشی شمس ) نوم وړی دی. دی شمس الدین د بدخشان دانجمن بولی لاندی رباعی ئی دهغه په نامه ثبت کړ پده .

رباعی

ا ز ما تمیا ن مبتلای و طنم
وز غمزدگان کنج بیت الحزنم
دی منزوی وادی غم مجنون بوه
ر سوا شد ۀ انجمن امر وز منم

لاندنی بیت ئی دشمس بدخشی ګڼلی دی :

چشمان من برویت در عاشقی چنان اند
کزرشك یکدگر رادیدن نمی توانند

صافی نور پوش: دهرات دښار واوهلته پالل شوی اوروزل شوی و ده دشعر طبع درلوده لاندنی بیت چه په ریاض کښی ثبت شو یدی دهغه دی :

زشوق تنگ د هانی دم ازعدم زده ام
بلو ح هستی خود نیستی ر قم زده ام

مولانا صالح بدخشانی : د ر یاض خاوند ، هغه بدخشی بللی دی اودار باعی ئی دهغه په نامه ثبت کړی ده :

گاه ا ز ستم چر خ نگون می گریم
گاه از الم سوز درون می گریم
القصه در آ تش جدائی چو کباب
می گریم و میسوزم و خون میگریم

طاهر هروی : ده دریاض الشعرا د لیکنی په اثر ، لومړی ښوونځی کوله بیائی کتابت ته اقدام و کړ طاهر په شعر کښی اوزد او زورور لاس در لود اوپه ادب کښی دمهارت خاوند و. واله ددوه طاهرانو څخه (یوقند هاری اوبل هراتی) نوم وړی دی. دی قندهاری طاهر اصلا دهرات څخه معرفی کوی اودابیت ئی دهغه په نامه ثبت کړی دی :

مطلع

خوش آنکه بپرسی دل دیوانهٔ مارا
روشن کنی ازشمع رخت خانهٔ مارا!

مګر د(بهترین اشعار ) خاوند دابیت دطاهر هروی په نامه ثبت کړی دی . په هرحال که دواله په ویلو او د(بهترین اشعار) خاوند په قول دواړه طاهر یوتن وبولو بیائی چه اشتباه مونه وی کړې ریاض الشعرا دا بیت د طا هر هر وی په نامه لیکلی دی:

گفتم پس ازین فکر من بیدل ودین کن
درخنده شدو گفت کا فکری به ازین کن

طبیعی : کمال‌الدین حسین طبیعی د سیستان د مشرانو څخه اودسرشارذوق اوښکلی‌طبع خاوندو. خوراښه اوښکلی شعرونه لری. کلام‌ئی پوخ اودرنگینی اودلاویزی څخه‌ډک‌دی - لاندی ابیات دهغه‌وی :

زود از سرم چنین گله آمو وبر مخیز
باقی نمانده جز نفسی زود بر مخیز
سهل‌است خون‌خوریم ونفس بر نیاوریم
کو ازنهاد سوختگان زود بر مخیز
روزی بمدعای دل ما بشب رسان
گومدعی زبزم تو خوشناد بر مخیز
آمدیم درخوابم وازبی قراریهای شوق
نه‌ترادیدم دگرنه خویش رانه خواب را

عاشقی‌ستیانی : مولانا عاشقی اصلا د سیستان و شاعر او شعر خوښوونکی‌سړی‌و. لاندی مطلع دده ده :

مطلع

تابه‌اوروشن کنم رازنهان خویش را
سوختم چون شمع مغز استخوان خویش‌را

غباری: دی دهرات په‌ښار کښی زیږیدلی اوخپل تعلیمات ئی هلته بشپړ کړی‌دی .برسیره پرشعر اوادب په موسیقی کښی هم مهارت‌درلوددابیت په‌ریاض‌الشعرا کښی‌دهغه په نامه ثبت‌دی:

مانند سبزهٔ خط لعلش ندیده خضر
هرچند گرد چشمهٔ حیوان برآمده

مولانا غیاث سیزواوی: پوه اوفاضل سړی ود طب د علم څخه‌ئی هم‌خبرتیا درلوده په شعر کښی دمهارت اوقدرت خاوندو اوښه‌شعرونه‌ئی‌ویلی‌دی.دنظامی گنجوی دمخزن الاسرار په‌تقلید یوه‌مثنوی اونور غزلیات او اشعارهم لری لاندی مطلع‌دده‌ده:

مطلع

ای‌صبا کان‌باغ عارض راتماشا کرده ئی
مضطرب می بینمت گویا گلی واکرده‌ئی

فریدالدین بلخی: دبلخ د شاعرانواودرسافکر او قوی‌طبع خاوندو دشعر په ډګر کښی‌ئی ترنورو پیشقدمی کړی‌ده. رنگین اوپه زړه پوری ابیات‌لری . دریاض‌الشعراخاوند ،لاندی‌ابیات دهغه په‌نامه ضبط کړیدی :

بغمزه نرگس مستش هلاك صد بیدل
ببوسه شکر لعلش طبیب صد بیمار
ز دردو حسرت واندوه ورنج او فریاد
ز گرد عشوه وناز وعتاب او زنهار

بی‌تو مرا دیده در افشان بماند
دیده بشد نقش تو بر جان بماند
آئینه برداشتی از نیکوئی
چشم تو در آینه حیران بماند

فارغ‌سبزواری: دسبزوار د شاعرانو څخه و چه غالبا په دوولسمی پیړی کښی‌ئی‌ژوندکاوه‌په‌ریاض‌الشعرا کښی دده‌څخه یادونه شوی‌ده دده‌شعرونو پو خوالی دده دطبع پر قدرت او چټکوالی دهوش شاهدی دی . لاندی ابیات دهغه دی :

چنان‌دوراز تودل را می فریبد هر زمان یادت
که‌آگاهی‌نباشد هرگزش گوئی زبیدادت
رقیبان راتلاشی بود در خونریز من باهم
توبرایشان نمودی تیز دستی آفرین بادت

مطلع

مانده‌ام از یار دورو ناصبور افتاده ام
من کجا و او کجا بسیار دور افتاده ام

فتوای هروی : میرزانوری فتوی دهرات د سترو شاعرانو څخه‌دی .نوموړی نه‌یوازی شاعر بلکه پوه اومتبحر عالم و . دی‌یوه اوزده موده په هرات کښی شیخ‌الاسلام او د پر پرهیزگار اومتقی سړی و پەزهد اوعبادت‌سره‌ئی‌شهرت‌درلود . دی پەهرات کښی مړشوی‌دی لاندی ابیات په ریاض‌الشعرا کښی دهغه په‌نامه لیکلی شوی‌دی :

بیت

پیش هرموی توام عرض‌ونیاز دگر است
من بغل‌باز کنم چون توکمر باز کنی

مطلع

زشرم و عده خلافی مکن کنار از من
نیامدن ز تو درو انتظار از من

فرد

وفای‌وعده همین بس که دردلت گذرد
که‌آن‌اسیر بلا کش در انتظارمن است

کمال‌الدین هروی: د زیږیدنی‌اومړینی ځای ئی دهرات نښاردی اوهمالته پالل اوروزل‌شوی‌دی پەادبیاتو کښی‌ئی لاس درلود. دریاض‌الشعرا خاوند نوموړی د کلام د ډیرښت پەلحاظ پەنړی کښی‌ممتاز بللی اولاندی بیت‌ئی دهغه په‌نامه ثبت کړیدی.

دوستان گرگشت مارا دوست ما دانیم ودوست
چون هلاك ما ز جای او ست ما دانیم و دوست

سیدمحمد: دی‌ئی سید محمد پرده‌دار هم باله او لحکه چه وطن ئی بلخ‌و نوپه‌بلخی سره‌ئی شهرت‌وموند .

واله لاندی بیت دده په‌نامه ثبت کړی‌دی :

☆☆☆

مطلع

عیسی کلام من که‌دم ازمن دریغ‌داشت
بیماراو شدم قدم ازمن دریغ د ا شت

مولوی سیستانی: نوم‌ئی حاجی احمددی دواله په قول د ی دولی دشت بیاضی دمعاصرینو څخه و، اودهغه سره‌ئی مشاعری کړیدی دغسی ددوی ترمنځ هجو گوئی‌هم‌واقع شوی‌د ممواوی شعرونه‌ویل اوښه‌تخیل‌ئی درلود دده‌دشعرونوهغه‌پرته د څوبیته چه‌دریاض‌الشعرا په‌تذکره کښی ذکردی‌نورهغه‌لاس‌ته نه‌دی راغلی هغه‌څو بیته په‌لاندی‌ډول دی :

مطلـع

به بالینم رقیب از جا نب دلدار می آید
اجل ازبهر پرسش بر سر بیمـار می آید

و لـه

من کیم کز ستم همچو تو ئی داد کـنم
که کند حرف مرا گوش که فریاد کنم
خلق را بزم طرب حلقـهٔ مـاتـم گردد
هر کجا شکوهٔ بیداد تـو بنیـاد کـنم

حاجی کـاهی : حاجی کـاهی د هرات دښارو اوشعرئی هم وایه . لاندی بیت په ریاض الشعرا کښی دهغه پـه نـامه ثبت شوی دی :

سویم گذری شبی‌عجب نیست برمن یکشب هزارشب نیست

نورالله : مولانا نورالله هم دهرات دښارو اوظریفه طبع‌ئی درلوده اوښه شعر ئی وایه لاندی مطلع دهغه ده :

مطلـع

جان را فدای لاله عـذا ری نسا ختیم
ای روی مـا سیـاه که کـاری‌نسا ختیم

نیازی بلخی : نیازی دمولانـا سیدعلـی زوی دی . دی دخیلی زمانی دمقتدرو شاعرانوهغه‌ودده‌له‌فکرهغه بدیع‌اوبکر مضامین راوتل . دده اشعار په‌زیاته پیمانه لاس‌ته نه‌دی راغلی دده لاندی مطلع چه‌په ریاض‌الشعرا کښی در ج ده دهغه ده :

بروی آتشین زلف تو ای سیمین ذقن بیچد
بلی چون موی برآتش‌نهی برخویشتن بیچد

امیر یوسف نیازی هروی : دهرات د امیر زاد گـانو څخه و او په هغه ځای کښی روزل اوپالل شوی‌دی ده شعرهم وایه اوزیاته توجه ئی رباعی ته وه . لاندی رباعی دهغه‌ده :

ر بـاعی

ای دل حشم و حشمت سلطان گذرد
روزو شب در ویش بریشـان گذرد
می‌نوش‌و غمین‌مشو که هرکار که‌هست
آسان چو بخویشتن گیری آسان گذرد

ناقد هروی : دی دهرات د شاعرانو څخه و او په‌شعر کښی ئی نښه‌لاس‌درلود اودښکلی‌قریحی‌خاوندو. لاندی بیت دهغه‌دی.

هوس می‌است ونقلم زدواعل فتنه جوئی
چه بلا خیـال خـامی چه کشتده آر زو ئـی

ندیمی : اصلا دبدخشان‌و هلته زېږیدلی او روزل شوی‌دی بیاهندوستان ته تللی‌اوهلته‌ئی استوگـنه کړیده‌اوهمالته‌ئی‌وفات موندلی دی . لاندی بیت دهغه‌دی :

دل به محر ومی دیدار نهم به که زدور
همچو حسرت زد گـان آیم ونظاره کنم

وفا : نوم‌ئی ابراهیم و اوبه «میرزا ابرا هیم وفا»سره‌ئی شهرت درلود : اصلی وطن‌ئـی د قندهـار زمینداور دی . ده دقندهارځخه هندته‌تللی اوځه موده ئی هلـته تېره کـړې ده . دریاض‌الشعرا خاوند لیکی چه‌دی نښه‌خلق، سپېځلی طینت،ټینګه عقیده درلوده او"په‌زړه سوی اومروت ممتازواوبه شعر اوانشا کښی بشپړ مهارت درلود . زما اودده تر منځ ډېر خصو صیت موجود و. په‌دی وختونو کښی او ربدل کېږی چه ده د لـوی څښتن درحمت‌سره پیو ستون کړی .» داسی څرگندېږی چه‌دی خپل وطن‌ته راغبر گ شوی او هلته مړ شـوی دی لاندی دوه بیتونه دهغه دی :

بیت

این‌ملامت بس زلیخا را که‌درمیزان عشق
نقدیوسف‌را بسنگ‌سنجیدو با گوهر کشید

و لـه

جز ندامت حاصلی در الفت خو بان نبود
ازمیان بیو فـا یـان چون وفا بر خاستیم

عارف‌تالقانی : میرزا محمدعلی متخلص به‌عارف‌دووولسمی پېړۍ دشاعرانو څخه و د ریاض‌الشعرا خاوندلیکی : چه «دی په ۱۱۲۳کال په هندو ستان کښی زېږېدلی اوبه کو چنیوالی کښی دخپل پلارسره ایران ته ولاړ او په تهران کښی استوگنه اختیار کړه او په تهرانی سره‌ئی‌شهرت‌وموند پلارئی دتالقـانو دسترو پوهانو څخه و . » دی بیالیکی چه «دی په ۱۱۵۸کال کښی هندوستان ته راغلی اوبه شاه‌جهان آباد کښی‌ئی‌استوگـنه درلوده اوزماسره ټینګه رابطه لری» لاندنی بیتو نه دهغه په نامه قید شوی دی :

آنقدر صبح و صال تو نگر دیدسپید
که کسی ننبهٔ داغ شب هجران سازد

وله

هیچ می دانی چه باشد در حقیقت عاشقی
اندك اندك قطره را دریای عمان ساختن

املای بلخی : ملا محمدی املا بن علاو الدین بن عزیز بن شیخ سیف الدین بن هارون خواجه عرب، دی. دی په ۱۱۰۰، ۱۱۰۱ کال په سنگچارك کښی زېږېدلی اودعلم اومعرفت تراکتساب وروسته بخارا ته تللی اوهلته ئی استو ګنه اختیار کړه . ده دصوفیې طریقی سره پابندی درلوده او هلته ئی خانقاه جوړه کړې وه په شعر کښی ئی هم بشپړ قدرت اوکافی برخه درلوده . اشعاروئی اکثرا دتصوف اوعرفان جنبه درلوده دیوان ئی چه په رباعیاتواوغزلیاتو شامل وو. تراوسه پوری دلځینو په لاس کښی شته . دی په ۱۱٦۲ کال په بخارا کښی مړ شوی دی. لاندی غزل ئی دتاجیك دادبیاتو لځنی اقتباس شو :

غزل

عرش مجید اعظم پر وانهٔ دل ما
حوران پاك سیرت فراش منزل ما
جبریل وقت طیران در بوستان دلها
فرسوده پای لنگ است افتاده در گل ما
عقل دوصد فلاطون کوشد بفکر صدسال
یك نکته حل نسازد از شرح مشکل ما
ازفیض خاکساری املا بجوش و حدت
یك شبنمی است دریا در طرف ساحل ما

لاندی مطلع ئی هم ډېره ښکلی واقع شویده :

مطلع

زسودای محبت بر سر بازار خواهم شد
چومنصور ملامت کش به پای دار خواهدشد

آشفته کابلی : نوم ئی محمد صالح بن محمدزمان اودکابل ددولسمی پېړۍ دشاعرا نو څخه دی . آشفته داحمد شاه بابا دپاچهی په اوایلو کښی ژوندی او ازادمنش سړی و. دی په ۱۱۷۲ کال کښی دلیو نتوب په مرض مړشو په شعر کښی ئی ښه لاس درلود لاندی دوې مطلع دده دی :

مطلع

خدا نکرده دگر چهره بر عتاب کند
بگردش نگهی عالمی خراب کند
میرود دل بسر کوی تو پنهان ازمن
بد گمان گشته ندانم بچه عنوان ازمن

بینوای بدخشی: نوم ئی شاه خلیل الله دبدخشی خلیفه ابراهیم زوی دی . دریاض الشعرا په قول ، د ریاضت اوسلوك مراتب ئی دخیل پلار په خدمت ، طی کړی و . ده د تصوف لوړ مطالب کله کله په رباعیاتو کښی منظوم کول . دواله د لیکنې څخه څرګنده ښکاری چه بینوا په ۱۱٦۰ کال کښی ژوندی و . په هرحال دی د دولسمی هجری قمری پېړی دشاعرانو څخه و . اشعار ئی بشپړې رباعی وی. لاندی رباعی ئی په ګلزار معرفت کښی درج ده :

ز اهد که درین سرا چه ما وا دارد
ا ندیشه ز گفتگو ی فردا دارد
گوشا دبزی که زاهد وفاسق ازواست
هرجا آ بی است رو بد ریا دارد

لاندی رباعی ئی د څونورو رباعیو په لړ کښی په ریاض الشعرا کښی ذکر شوې ده .

رباعی

من آب شدم سرآب دیدم خود را
دریا گشتم حباب د یدم خود را
آ گاه شدم تمام د یدم غفلت
بید ار شدم بخواب دیدم خود را

خرد : اصلا دبلخ و مګر هند ته ولاړ . صوفی مشرب او پرهیز ګارسړی ودعلم او پوهنی څخه ئی کافی برخه درلوده اودادب په علم کښی هم قدرت درلود ، خوازه اوبه زړه پوری اشعارئی ویل . دی په ۱۱٦۱ هجری قمری کال کښی مړشوی دی لاندنی دوبیته دده دکلام نمونه او دهغه دطبع ښوونکی دی !

مطلع

دل برخون شده مینای شراب لب کیست
جگرم سوخت ندانم که کباب لب کیست

وله

بوصف طرهٔ مشکین اوچون خامه سر کردم
سیا هی از سواد دو دهٔ آه سحر کر دم

غیاثی : نوم ئی غیاث الدین بن میرك اوتخلص ئی غیاثی اود جرم بدخشان په حصارك کښی زېږېدلی و. دی هندته ولاړ اوبه سرهند کښی دشاه غلام محمد معصوم خدمت ته ورسېد اود هغه څخه ئې لاس نیوی و کړ او څه موده ئی په ریاضت تېره کړه خود خپل پیر نه ارشاد حاصل کړ خپل وطن بدخشان ته راغبر ګشو دی بوشعری دیوان هم لری چه تصوفی مضامین او افکار پکښی دی . دادیوان په هند کښی هم پلا چاپ شوی دی اوپه غزلیاتو مخمساتو، رباعیاتو او مثنویاتو په مختلفو بحورو کښی شامل دی. د غیاثی کلیات دتحفة المعصوم په نامه موسوم دی . ده یوه پلاد حجاز وخواته هم سفر کړی دی په ۱۱۸۱ کال کښی مړ اوپه فیض آباد کښی ښخ شوی دی . دده هدیره دخواصو اوعوامو زیارتګاه ده. لاندی غزل ئی دناصرعلی سرهندی په تقلید انشا کړی دی :

غزل

زخود گم‌شو نظر کن برق حسن بی‌جمالش را
که پرتوها است بر ذرات عالم آفتا بش را
درا مستانه چون‌منصور در میخانهٔ وحدت
که تا بینی عیان درشیشه ها موج شرابش را
بزهدو پار سائی کی‌توانی رفع حجب کردن
مگر ازرخ نسیم جذ ب بردارد نقا بش را
کلیم آسا سطور عشق گردد محو دید ارش
بجان‌هر کس که نوشد چون عسل‌زهرعتابش‌را
بقربانگاه وحدت‌رفته جان خویش‌قربان کن
چو اسمعیل جویائی اگر قرب جنا بش را
غلام حلقهٔ در گوش د ر پیر خرا با تم
که غرق نور گشتم تا نمودم سجده بابش‌را
عجایب شو ر دارد قلزم نا صر غیاث الد ین
بخون‌چون‌بحر جوشیدم که‌تا گفتم‌جوابش را

عاشق : نوم‌ئی محمد،تخلص ئی عاشق (مین) اودزپښه‌دنی خای‌ئی دبدخشان خوستك دی اوهم‌په بدخشان کښی‌مړ او ښخ شوی‌دی . عاشق‌په۱۱۳۱کال کښی زپښه‌دلی‌دی لمړی دعصری متداوله علوم‌زده کړی‌او په‌ادب‌اولیك کښی وړاندی تگ وکړ . ښه شعرئی‌هم‌وایه اوښه آثارئی په‌یادگار پری‌اښی‌دی. نوموړی په۱۱۸۲هجری‌قمری کال‌دحضرت سید په‌کلی کښی چه دبدخشان یمگانو دکلیلوخخه‌دی ، مړ شوی اودحکیم ناصر خسرو قباد پامنی بلخی دمزار په پای کښی ښخ شوی دی . لاندی بیتونه دده دمثنوی څخه‌نقل شوی‌دی :

بلبل شیفتهٔ نالا نی — عاشق غمزدهٔ گریانی
گلستان‌زادهٔ‌خوش‌آوازی — نغمه پروازنوامیسازی
سالها در هوس یار بغم — همدم‌آه وانیس ماتم
سرشوریده برازد ردجنون — دل‌غمدیدهٔ‌اوغرقهٔ‌خون (الخ)

سودا : میرزا محمد ر فیع د افغانستان دد ولسمی پېړی دشاعرانو څخه یوتن‌و . نوموړی اصلا دکابل دښا رو مګرد دهلی په‌جهان آباد کښی پالل اوروزل شوی اوهلته‌ئی دعلم‌او عرفان اکتساب کړی‌و.دی دهغه‌ځای نه ، لکنهو ته‌ولاړ اوپه ۱۱۹۵ کال کښی‌مړشو. ده نه‌یوازی په‌فارسی شعر کښی‌مهارت درلود بلکه په‌اردو ژبه کښی‌هم‌باخه اورنګین اشعا ر وېل لاندی بیتونه دهغه‌دی .

بستانم از کی زین‌دوعدد خونبهای‌دل
دل جرم چشم گوید و چشمم گناه‌دل
یکشب اگر به‌بزم خودم‌جادهی چوشمع
روشن شود بجان تو ر وز سیاه دل

☆ ☆ ☆

سازم بچنین‌مرگ عوض عمرابدرا
سر را چودم‌نزع بزانوی تو بستم

احمدخان : احمدخان په‌اصل‌کسی دکابل‌و . دی دلته زېږ پدلی اوهمدلته روزل‌شوی‌دی په‌شعر کښی‌ئی‌لاس درلود اودده دطبع څخه خوازه اشعار راوتل. دسکینة‌الفضلا دلیکنی په‌اساس،دی ددوولسمی‌پېړی د شاعرانوڅخه‌و . لاندی رباعی دده ده :

دنیا که دمی نیست قرار اندروی
هستی است زنیستی شمار اندروی
دنیا طلبان بیقرار اند روی
چون کاغذ سو خته شرار اند روی

الفتی کابلی: نوم‌ئی قلچ‌خان اوددولسمی پېړی د شاعرانو اوداحمدشاه ابدالی معاصروده‌په‌عسکری کښی منصب او رتبه درلوده په‌شعراوادب کښی‌ماهراودعلم‌اوفضیلت‌خاوندو ښه شعرئی وایه لاندی ابیات‌دهغه دی :

کشتهٔ آن نرگس مستم که‌درعین خمار
عالمی را کشته‌وخودرا بخواب انداخته

مطلع

نیست‌دردل‌غنچهٔ بیکان آن قاتل مرا
بی‌لبش خونی که‌خوردم‌شد گره دردل مرا

فیاض: نوم‌ئی فیاض‌محمد اوپښتنی‌شاعردی چه‌په فیاض خان سرهٔ‌شهرت درلود ده څه موده په‌هرات کښی تېره کړې اوبیا هندته ولاړ دی دافغانستان‌ددولسمی پېړی دشاعرانو څخه دی لاندی‌بیت په‌سکینة‌الفضلا کښی دهغه په‌نامه ثبت‌شوی دی :

از تو باشد بزم روشن‌خویش‌را گم کرده ام
تیر گردانی کند چون شعلهٔ جواله‌شمع

کریمی‌افغان: کریم‌الله خان کریمی دافغانستان ددولسمی پېړی دشاعرانوهخه‌دی . نوموړی څه موده په پېښو رکښی تېره کړې‌ده . دبهارافغانی دلیکنی‌په‌لحاظ ،ده په‌اردواوفارسی شعر کښی لاس‌درلود دلاندنیو بیتونو نسبت هغه‌ته شوی دی :

نازنین سرو خرامان کسی می‌آید
مرهم سینهٔ سوزان کسی می آید
جامهٔ نازبه‌بر کرده‌چو گل‌خرم‌وشاد
از پی چاك گریبان کسی می آید
ای کریمی مکن‌ازدردوغمش ناله‌وآه
منتظر باش که‌درمان کسی‌می‌آید

کبیرافغان: دی‌هم دافغانستان ددولسمی پېړی دشاعرانو څخه‌و. نوموړی په رامپور کښی میشت و دی‌دذکرشوی پېړی دفارسی‌ژبی دزورمنوشاعرانو څخه‌و اوپاخه‌شعرونه‌ئی‌وېل‌لاندی بیتونه دهغه‌دی :

آه چسان طلب کنم بوس رخ چو ماه را
ریخته سرمه در گلو خط تو بوسه خواه را
راه نشین خویش راره ندهی چو سوی خویش
بهر چه کرده ای ببر جامه راه راه را
از ذقنت چسان بود راه سلامت دلم
ساخته آب زیر کاه خط تو آب چاه را

لاندنی مطلع او مقطع ئی هم په ډیره شکلی واقع شوی ده .

بتی که روی وی از مصحفی نشان دارد
زدور خط سیه سوره دخان دارد
ز بخل مفت نداد آنکه هیچگه دشنام
کبیر ازو هوس بوس رایگان دارد

یوسف : دغیاث الدین بدخشی د مریدانو او ارادت مندانو څخه دی . دی د بلخ دامیرزادګانو څخه او چه د غیاثی خدمت ته رسیدلی دی . میرزا شیخ محمد یوسف تول عمر دخیل مرشد سره تیر کړی دهغه د تاریخ او مرثیې په ماده کښی ئی د درده ډک ابیات ویلی او د وفات تاریخ ئی چه ۱۱۸۱ کال دی دابجد په لفظ او حساب سره داسی موندلی دی :

رو (بجودر بدخشانی) توای یار عزیز
درهزارو یکصدوهشتادویك گشته نهان

د ی بو کوچنی دیوان هم لری چه په لاس لیکل شوی دی او د ده داستاذ داشمارو په شان سادګی او سلاست لری او موضوع ئی تصوفی او عرفانی دی لاندنی بیتونه د ده د کلام نمونه ده :

شور منصور است امشب برسر پرشورما
قابل این شور نبود جز سر منصور ما
عاشقان آمادهٔ رنجند وراحت دشمنند
عاقبت بر خود نمی خواهد تن رنجور ما

غزل

تا وصف جمال تو شنیدیم شنیدیم
از شوق به تن جامه دریدیم دریدیم
یك گل بمراددل خود حیف بصدحیف
از گلشن وصل تو نچیدیم نچیدیم
سررشتهٔ وصل تو نیامد بکف ما
هر چند بکو یتو دویدیم دویدیم
در دطلب ازمهر تو یوسف نگذاریم
جان داده و درد تو خریدیم خریدیم

(دفارسی نثر دریمه دوره)

دادوره څرنګه چه په نظم کښی متاخره دوره یاده شوه په نثر کښی هم دمتاخرینو دسبك په نامه یاده شوی ده په دی دوره کښی فارسی نثر دمغولو دزمانی انحطاط تعقیب کړی او بخوانی شکلا او بنایست ئی بشپړ دلاسه ورکړ . لکه چه دمغولو دزمانی دمخه ، په کلماتو کښی یو خاص فخامت او جزالت موجود و اوهم نثر صورة اومعناً په لوړ اسلوب لیکل کیده مګر دصفویانو څخه (۹۰۵) را په دیخوا چه ددغی دورې د شروع مرحله وه او د شورلسمی پیړۍ تر اوایلو (۱۳۲۳) پورې پایښت مومی په عمومی ډول، نثر ډیر عادی او بیچه ګانه دی علت ئی داو چه په دی دوره په ایران کښی د تشیع دمسلك ظهور اوهغه اخ وډب چه د دی کیش پرخلاف پیداشو نثر ئی د دینی اومذهبی آثار و خواته کش کړ او د لیکوالو او یوهانو توجه اوپاملرنه چه پخواهم عربی ته زیاته وه ، دنبوی احادیثو اواقوالو روایاتو ، د قرآنی آیاتو او تفسیرته د دلایلو او براهینولاس ته راوړلو دپاره اودیوه مذهب د تائید اودبل د تردید په غرض تعمدی و ګرزوله . نو په دی سبب دفارسی ژبه چه په ابتدا دومودو او بیړیو کښی دعربی له تاثیر لاندی واقع شوې وه ، په ډیر شدت سره دعربی کلماتو اوقوانینو متاثره شوه او عربی کلمات دسیلاب په شان په فارسی ژبه کښی داخل شول او دا تاثیر تردی حده پوری وچه په سلو کښی اتیا ترنوی پوری دفارسی کلمی دعربی لغاتو څخه تشکیل کېدلې دا کیفیت سبب شو چه ژبه دزاړه حالت څخه وباسی . په دی دوره کښی سربیره پردی دهیڅ نی قدرت اود معلوماتو پایه په فارسی ژبه کښی خورا ضعیفه وه او لکه چه نن ورځ معموله ده په ډیرو ملکو مخصوصا افغانستان کښی ، چه فارسی ژبه متداوله ده اوشاګردان دعربی ادب اوعلومو په زده کولو هڅه کړی ، دفارسی ژبی څخه لږی پاته کېدل . داراز وګړی چه په فارسی ادب کښی یې نیمګړی تتبع اومعلومات هم نه درلود په دی ژبه کښی په انشا او کتابت بوخت وو اوهمداوجه ده چه فارسی ژبی قهقرائی تګ کاوه چه کله ئی نیول شوی نه وای ددی وضع په دوام سره، دفارسی ژبه به بیخی محو شوی وای .

هندبانوچه دسلطان محمود غزنوی د زمانی څخه یې دفارسی ژبی سره آشنائی درلوده دهند په مغولی عصر کښی دی ژبی ته څه په نظم اوځه په نثر کی داسی ترقی ورکړه چه دخیل ذوق له مخی ئی مخصوص سبك ورته پیدا کړ . داطرز او اسلوب غالباً دعلم خوښوونکو اوادب بالونکو شاهانو اودهند کښی دپوهو اوفاضلو مغولی امیرانو په توجه منځ ته راغی . ځکه چه دیوی خوا د متعصبینو جارو جنجال او سخت ګیر یو د آزادو لیکوالو خوش طبع شاعران، چه د آزاو تحمل لپاره حاضر نه وو ، دخیل هیواد په پرېښو دلو مجبور کړل . د بلی خوا د هغو سا ژوند آرزو اودمغولی امیرانو د خواد کلام اوقلم دقدر شناسیو آوازه چه ددغو لیکوالو او شاعرانو غوږونه رسیدلی وه سبب شوه چه دوی دهندلازه ونیسی نو. په نتیجه کښی یې دادب او

نویسندگی بازار په هغه ملك کښی تو د کړ او د نثر د سقوط مخه یې په هغه ځای او نو رو ملکو نو کښی و نیو له لږ نی سړی چه‌ددی دوری په‌اوایلو کښی دغار سی نثر یه نیګمړتیا پوه شو اودهغه دسمون اواصلاح دباره ئی اقدام وکړ، دکښی شیخ ابوالفضل داکبر ددربار و زیر وٌ، ده د لغت یو کتاب پـه فارسی ژبه کښی تالیف کړ اوهم ئی‌ددری ژبی کلمات اولغتونه ترجمه او تفسیر کړل . سر بېره پر دی نور آثارئی هم ولیکل چه اکثرئی په‌خالصه فارسی لیکل شوی دی اوبه سلو کښی ترلس دولس عربی لغتونوځخه لږ یکار اچول شوی‌دی . سربېره پرفرهنګ په هغه اسلوب نور منشأت ئی ولیکل اوهو نور اثارئی په‌تاریخ اونورو کښی و لیکل چـه په هغوی کښی آیین‌اکبری، اکبرنامه، او بهاردانش د بهرامشاهی دکلیله دمنه لنډیز دتذکر وړدی . په دغو تـولو اثـارو کښی کوښښ شویدی چه فارسی لغات ډېر استعمال شی او سبك او شیوه ئی دفارسی ادب داصول او ذوق سره انطباق و لـری . داسی دی تصور نشی کوم سبك‌چه‌په ثرکښی ابو الفضل غوره کړی و په‌هندوستان کښی دټولو فضلا وٌ او لیکوالو دخـوا تعقیب شوی دی بلکه هندوستانی منشیان اولیکوال دخپل فضل داظهار دپاره اودخپل لوړوالی دځرګندولو په غـرض نسبت نورو لیکوالوته ،خپل منشأنـو په تکلف او تصنع سره لیکل اوکوښښ ئی کاوه‌چه لږمطلب‌دمترادفو جملو اواوزدو عباراتو اوفقراتو په‌چوکات کښی داخل کړی‌اومنشیانه اولوړنثر ولیکی . په‌دی دوره کوم شی چه ډېر دتامـل وړدی . دیـوی سلسلی کتابونو لیکنه ده په‌مختلفو موضوعاتو کښی چه لاندی ئی ذکر کېږی . په تېرو دورو، ددی موضوعاتو پرشاو خوا لـږ اثار لیکل شوی‌دی اوشمېر ئی محدود دی . مثلا د فـرهنګ لیکنه یوددغو موضوعاتو څخه ده چه هرلیـکوال د خپـل ذوق دمخی یادفارسی ژبی بشپړ لغتو نه ټول کـړ ی فر هنګ ئی ترتیباوه یاعربی لغتونه‌ئی مجموعاً دقاموس په شـکل اړول او بعضو نورو دعر بی او فارسی لغتو نه سره غونډول او قاموس ئی جوړاوه.حتی ځینی لیکوالو سربېره پرعربی لغاتو ، تورکی اونور الفاظ چه په فار سی ژبه کښی معمول وو، ذخیره کړی اوبیا ئی فرهنګ تالیف کړی‌دی اوهغه ئی ادب خوښو نکوته وړاندی کړی دی . بله‌موضوع دتذکره نګاریـ موضوع ده دشاعرانو، مشایخو اومتصوفینو دشرح حال په‌باره کښی . په‌دی دوره کښی تذکره نو یسی ډېره معموله وه اوبـو شمېر ډېری تذکرې لیکلی‌شوی او خیری‌شوی‌دی کوم‌څخه‌هم دتذکرې لیکنه پخواهم مروجه وه اودشاعرانو شرح‌حال پخواهم دتاریخ دجزء په نوګه یادیوه جلااثر په‌فصل اوباب کښی یاد کتاب په اساس لیکل کېده، مګر پرته دهومحدودو اثرو لکه دعوفی‌لباب‌الالباب، دشیخ عطار تذکرةالاولیا اودسمرقندی دولتشاه‌تذکره بل کوم اثر په‌دی باره کښی لیکل شوی‌نه وٌ. مګر تردی دوری‌وروسته لیکوالو دعمومی یادخصوصی‌تذکرو لکه‌دیوی دوری شاعرانو یادمعاصرو شاعرانو دشرح‌حال ، په‌لیکنه پیل‌اوتذکره‌ئی ترتیب کړې ده . بل ددی دوری د بارزو مشخصاتـو څخه، دلیـکنی شیوع اودمذهبی کتا بونو تالیف دی . لکه احادیث، اخبـار فقه اصول اونور دتاریخ کتابونه هم په دی دوره کښی زیات وليكل شول مګر دالیکنی داسلوب په لحاظ ددی دوری تـول آثار نسبت تېری زمانی ته ضعیف او کمزور ( مـګر سلیس) تالیف شوی‌دی اوځه ادبی ارزښت نه‌لری . لوی‌علت ئی هـم دمذهبی مسایلو زښوالی او دمذهبی گوندونو اختلاف دی چه ددواړه‌خواو ترمنځ په ډېر شدت سره پرمذهبی مسایلو باندی جګړه روانه ده داوضع سبب شو چه د کما لیـاتو مـوضوع دشرعیاتو وخوا مغلوبه شی اونثرد کښته والی‌اوسستی وخواته کش کړی . چنانچه مرحوم بهار ملك الشعرا په‌دی باره کښی لیکی : «ددولت او دبوهانو توجه دینی علومو ته وه او دټولو مملـکتی رجالو پاملرنه‌اواهتمام د شرعیاتو دخپرونی او دټولا اوتبرا توسعه موندلودپاره‌وه نو ځکه دفارسی‌ادبیاتو دتحصیل دپاره توجه او اعتنا ونه‌شوه او دهغی دوری د علماؤ په قول ، کمالیاتوته‌چا اهمیت نه‌ور کاوه » سربېره پردی ځینی تعدیلات اوتغییرات په‌خطاطی کښی عملی شول . چه‌متدرجاً خپاره شول‌او تر نن ورځی پوری‌ئی دوام پیدا کړ . دپخوانیو په منظوموا و منثور دکتابونو کښی دشاهر خ میرزاترزمانی پوری (پ،چ،ژ) د (ب- ج‌اوز) شکل‌درلود اوهم (که- چه - نه)په(کی-چی،نی) لیـکل کیده . مګر دا او س د شاه رخ ترز مانی ورو سته مخصوصاً د صفویانو په زمانه کښی تغیر ومونده اود(پ،چ، ژ) لپاره ځرنګه چه تراوسه پوری معمول وٌ ، د ری ټکی ئی وټاکل چه په لیکلو کښی هم ددغه اسلوب رعایت‌وشو . دغسی دفارسی کاف د پارې یوه علامه ( ننبه ) وضع شوه چه د عربی کاف ځنی بېل‌شی اوهم ( چه - نه - کـه ) ئی، ځرنګه‌چه اوس معمول دی لیکل ، ګویا په عمومی ډول دوی قصد کړی‌و چه پخوانی طرز اوسیاق واړوی . په‌دی دوره کښی کوم شی چه د پخوانیو په اقتضا لیکل کېده او لیکوالودهغه په‌مراعات کولو سره داغراق مرتبی ته رسولی‌اودنثرسلاست‌ئی اخلالاوه هغه د کتا بونه د مطا العو ، منا شیرو ، فرامینو اودر باری لیکونو څخه‌عبارت و لیکوالو د پخوانیو په تقلید کوم وخت چه دپاچانوم یادیده یادده دکارنامو څخه یاددولتی او سیا سی برجسته شخصیتونو یادمذهبی پیشوایانو او مشرانو څخه خبره منځ ته راتله نو نثر د تـکلف او مبالغی صبغه نیوله اود هغه سلاست ځنی چه د کتاب په نورو برخو کښی لیدل کېده

بهر ووت. دغه لیکوال په‌دی برخه کښی هم دپخوانیو به‌خلاف د خبری‌داوزدولوڅخه کاراخیست‌او په‌هغه‌ځای کښی چه‌پخوانیو به‌څو لنډو کرښوبوه موضوع لیکله دوی به‌څو صفحو اوڅو پانو کښی خبره ازودوله. چه‌ټوله‌پرته له‌عبارت ارائی بل‌شی نه‌و. وروورو خبره دی حدته ورسپدله چه‌یوه‌لیکو نکی یوه بسیطه واقعه بی‌له تشبیب اوعبارت آرائی‌لخپی‌په‌دووصفحو کښی نشوی لیکلی حال داچه هماغه لیکونکی څومتعددی صفحی دتشبیب او مقدمه ارائی‌څخه ډکولی. مثلا دلته یوبسیط مطلب چه‌به‌لاندی عبارتو ادا کړای شی :- « ستالیك چه‌د میر ضیاء الدین به لاس دی را استولی و راورسپد » په‌دی متکلف او اوزدوعبا را و سره لیکل شوی دی «منشورلامع‌النوردولت‌واقبال‌ونشان عظیم‌الشان عظمت واجلال که‌مرقوم قلم فیض رسان منشیان آراسته بزبور فضل‌وکمال ودبیران پیراسته‌بادانش وافضال گشته نامزد مخلص نیکو خواه فرموده بودند در طی صحبت سیادت و عزت پناه معتمدالسلاطین میر ضیاء الدین که‌بمقتضای یعرف قدرالمرسول من‌الرسول ، مستغنی ازتعریف است. درآوانی که دستبرد قضا فرش بوقلمون ربیعی را ازغیر منهج طبیعی ازصحن زمانه در چیده ومهوشان ریاحین واز هارپای خموددردامن خمول پیچیده وانبساط خواطرروی‌به‌انحطاط آورده‌بود ، مانندهمای‌زرین‌بال همایون فال وشاهباز مشکین جناح عزت وجلال با خط و خال منقش چون طاؤس خوش‌خرام هند و ستان دردوحه وداد جلوه کرد . »

داوه دنثر اوضاع به‌لسمی پیړی‌تر١٤ پیړی‌پوری یادفارسی نثر به‌دریمه دوره کښی چه به‌لنډ ډول ولیکل شوه . دادی چه مونږ دی دوری دمنثورو آثارو یادول به‌لاندی ډول غواړو :

## دلسمی پیړی منثور تالیفات

اخلاق محسنی : دا کتاب دکمال‌الدین‌حسین بن علی بیهقی هروی تالیف‌دی چه‌په ملاحسین واعظ کاشفی سره شهرت‌لری. دا کتاب‌په‌ځلو‌پښتو‌بابو‌نو کښی‌دپاچهانوداخلاقواو کړنو به‌باره کښی دسلطان حسین میرزای بایقرا به‌نامه تالیف اوده دزوی ابو محسن به‌نامه سره مسمی شوی‌دی . اود تالیف نېټه ئی هم ( اخلاق محسنی )چه (٩٠٠) هجری کښږی ، موندله شوی‌ده. ده یوزیات شمیر آثار لیکلی دی چه تقریباً ځلو‌پښتوته رسیږی مونږ دلته ددغو اثرونو دمونو به‌یادولو اکتفا کوو :

جواهرالتفسیر : تحفةالامیر به‌دووجلدو کښی‌لیکل شوی‌مگر دوهم جلدئی نیمگړی‌پاته‌دی . مختصر الجواهر به‌فارسی کښی یولنډ تفسیر دی . مواهب علیه چه‌دتفسیر حسینی به نامه شهرت لری . جامع الستین ،د حضرت یوسف ع تفسیر به‌عربی به٦٠ فصلو کښې - روضة الشهداء چه‌د کربلا د وقایعو به‌باره کښی به ٩٠٨ کال دعبدالله به‌نامه ( دسلطان حسین میرزالمسی) لیکل شوی‌ده - شرح‌مثنوی - لباب‌معنوی فی‌انتخاب‌مثنوی - لب‌الباب مثنوی - (دایو بل اثردی چه‌د مثنوی دلباب‌څخه‌انتخاب‌شویدی ) مخزن الانشاء ، دانشا او دلیك د لیکلو د اصولو اوقوانینو په باره کښی یو کتاب دی د غسی‌ئی هم‌یو بل کتاب د انشا به‌باره کښی‌به٩٠٧ کال‌دجدول به توګه تالیف کړی‌دی. اسرار قاسمی ، به‌سحر او طلسماتو کښی لوایح قمر - میامن المشتری لوامع‌الشمس سواطع‌المریخ - مناهج الزهره - نصایح عطارد مواهب الزحل دنجومو په باره کښی لیکل شوی دی - مرصد الانسی فی‌استخراج اسماء الحسنی رسالة العلو یه تحفة العلیه رسالةٌعلم‌اعداد - بدایع الافکار فی‌صنایع الاشعار رسالةٌادعیه رسالةٌحاتمیه - تحفةالصلواة - رسالةٌ احادیث‌نبوی - اختیارات نجوم فی‌فض‌النوال فی بیان الزوال - مفاتح الکنوز - میامن الاکتساب فی‌قواعدالاحتساب - آئینه سکندری - فتوت نامهٔ سلطانی - مرآت الصفافی صفات‌المصطفی،نور کتابونه‌او آثار دحساب، کیمیا، حدیث،ادب ، اورادو او نجومو په باره کښی هم‌لیکل شوی‌دی .

انوارسهیلی: دملاحسین یوبل‌مهم‌ادبی اثردی چه ډیرشهرت لری .

روضةالصفا: عمومی‌معروف تاریخ دی په اوه جلده کښی مولف‌ئی‌همام‌الدین محمد بن خاوند شاه بن‌محمود دی چه به‌میر خواند شهرت لری .

تکمله روضةالصفا: دایواثردی چه‌دمیرخوند دزوی‌یادلمسی (غیاث‌الدین‌خوندمیر) له‌مرګ وروسته‌ئی دځو کلونو واقعات دروضةالصفا داووم‌جلد په تعقیب لیکلی دی .

خلاصةالاخبار فی‌احوال‌الاخیار : دادغیاث الدین خوند میر اثردی چه دروضةالصفا تاریخ ئی لنډ تهز کړی اوبه ٩٠٥کال کښی ئی پای ته‌رسولی‌دی .

ماثر الملوك: دخوندمیراثردی چه‌دپاچهانو حکماؤ اوددین دمشرانو دخبرو په‌باره کښی لیکل‌شوی اوبخواتر ٩٠٦ کال کی ئی بشپړ کړی‌دی .

دستورالوزراء : داهم‌دخوند میراثردی داسلامی وزیرانو داحوال به‌باره کښی‌دغیاث‌الدین ترزمانې پوری‌دا اثردوه واره (یوځل‌به٩٠٦کال کښی به‌مجله توګه‌اوبل‌ځل‌دمحمد خان‌شیبانی به‌دوری‌به(٩١٤) مفصل ډول‌لیکل شوی‌دی .

مجالس‌النفایس : دا اثرلمړی به‌تورکی‌ژبه به٨٩٦ هجری کال دامیرعلی شیرنوائی به‌واسطه تالیف‌شوی مگر به٩٢٧کال یوتن شاه‌غلی‌نامی‌چه‌به‌فخری‌امیری‌ئی شهرت‌درلود هغه‌به‌فارسی

ترجمه کړی اودهو الحاقاتو د زیاتولو نه وروسته هغه ئی به لطایف نامه مسمی کړ .

حبیب السیر: بشپړنوم ئی (حبیب السیر فی اخبار افراد البشر) دی دا کتاب تاریخ دی چه وقایع ئی دبشر دلمړنی تاریخ څخه بیاتر ۹۳۰ کال یعنی دشاه اسمعیل صفوی تروفاته پوری لیکلی دی اومؤلف ئی غیاث الدین خوندمیر دی .

جواهر العجایب: دشاه علی فخری امیری تالیف دی چه به ۹٤۷ کښی لیکل شویدی دا اثر دتذکرة النساء په نامه هم شهرت لری اود بدخو شاعراتو په باره کښی معلومات ورکوی .

مذکر احباب: دایوه تذکره ده چه دامیر علی شیر دزمانی اودهغه وروسته دشاعرانو احوال بیانوی او دحسن خواجه نثاری بخاری اثردی دا اثر تر ۹۷٤ کاله پوری د شاعرانو په احوال شامل دی .

تذکرهٔ ناظم: مولف ئی میر محمد اسمعیل خان ناظم بدخشی الاصل دی چه دغه تذکره ئی (د ۱۲۲۰ تر ۱۲۲۵ کال په شا وخوا کښی) لیکلی ده او به هغی کښی دبلخ بدخشان ، ایران او بخارا د فضلاؤ احوال لیکل شوی دی . مؤلف ، دمیر محمد شاه دبدخشان دحکمران معاصر و چه دهغه په امر دیوه هیئت سر ه په ۱۲۱٤ کال کښی دمحصولاتو د ټولولو دپاره شرقی ترکستان ته هم تللی و .

تکملة الریاض : ددی کتاب مؤلف میر محمد نبی خان احقر دی چه په ۱۶۲۱ کال کښی دمیر محمد یوسف علیخان دبدخشان درستاق میر په نامه تالیف کړی دی دا تذکره زیاتره د بدخشان اودهغه ځای دشاوخوا شاعرانو داحوال په باره کښی ده . اوومه روضه ئی دمتقدمو شاعرانو او په عربی او فارسی ژبه دشعر او شاعری په باره کښی معلومات ورکوی .

اخوان المجالس: دا کتاب د میر برهان الدین لاغر متخلص په بدخشی تالیف دی چه په ۱۲۸۵ کال دتالقان د باغ ئی په کلی کښی لیکل شوی دی . په دی کتاب کښی لمړی داسلام لنډ تاریخ دچنګیز ترظهوره پوری لیکل شوی او بیا دفارسی ژبی دمعاصرو شاعرانو احوال ځرګند شوی دی .

تاریخ بدخشی : لمړی محمد حسن بدخشی د ۱۱۰۰ هجری قمری کال په شاوخوا دبدخشان په فیض آباد کښی دا کتاب تالیف کړ مګر دغه تاریخ بیا په ۱۲۲۳ قمری کال کښی دمنشی محمد رضا دخوا تالیف شو ددی کتاب په پای کښی دیوه شمیر شاعرانو احوال هم درج دی .

میکده: داعمومی تذکره دهرات یوه تن ددیارلسمی هجری پیړۍ دلویو شاعرانو د آثارو څخه ده مولف ئی تر ۱۲٦٤ کال پورې ژوندی و . دمولف نوم احمدقلی خان نظام الدین اوتخلص ئی صارمی و ددی تذکری قلمی نسخې دذوق دخاوند انو سره شته دی .

## د نادر افشار تر نادر افغان پورې د افغانستان ادبیات:

نادر افشار دخپل عمر په پای کښی بیدادګری ته لاس پورې کړ اوظلم اوستم ئی ترحده تېر کړ . هرښار ته چه ورسېد هلته ئی دسرو نو څخه مناری جوړې کړی اودخلکو په وژلو اودوینو په تویولو ئی لاس پووې کړ . خلك دده د ناوړو کړنو څخه متاذی شول اوهرچیری او په هر ګوټ مخصوصا دشیروان په برخو او په تبریز استرآباد اودافغانستان دلمر پریوتو په برخو دسیستان په شاوخوا اونورو مناطقو کښی ئی دده پرخلاف ، بغاوت اوشورش ته اقدام وکړ خو په ۱۱٦۰ هجری قمری کال کښی دده دوراره علیقلی خان دهوتنو ګمارل شویو کسانو په واسطه دجمادی الثانی په میاشت دیکشنبی په شپه دخپلوشان په فتح آباد کښی ووژل شو . احمدخان ابدالی چه هغه وخت دنادرشاه په فوځ کښی دسترو منصب لرونکو څخه و دمخالفینو پرضد قیام وکړ اوشاهی حرم او کورنۍ ئی ددښمنانو دتېرۍ څخه وساتله اوددوی ئی شاهرخ ، نادرشاه زوی ته ور وسپارل دی اوبخیله قندهار ته راغی . دافغانستان خلك چه دنادر دحاکمانو دزورزیاتی او تعدی څخه متاذی و دافرصت غنیمت وګانه او په نادرآباد کښی ئی ملی جرګی ته اقدام وکړ او ابدالی احمدخان دزمان خان زوی ئی د ۱۱٦۰ هجری قمری کال دشوال په میاشتی په ۲۵ کلنی عمر په مشر توب وتاکه دقندهار د هوتکیانو او دهرات د ابد الیانو حکومت نظر د جنګ جګړو اوداړو دوړو په اثر اودخپلی حکمرانۍ دمحدودیه نسبت و نشو کولای د علم اوپوهی خپرولو او تریجو یجولو ته متوجه شی اودهیواد دلاسه وتلی ادب اوادبیات بېرته ژوندی کړی لکه په اول سر کښی هغه مجادلی اوشخړی چه دوی دایرانیانو سره درلودی دوی ئی دعرفانی اوادبی فعالیتونو څخه بېرته پاته کړل دبلی خوا دپردی ملك ساتنه دهوتکی پاچهانو توجه خپل لځان ته جلب کړه اودوی فرصت ونه مونده چه دادبی اوعرفانی دپرمختیا دپاره څه فکر اوکارو کړی . سربېره پر دی کورنی مخالفتونو اوذات البینی جګړو چه د مملکتونو دبېرته پاته کېدو اودخرابۍ لوی عامل ګڼل کېږی ، افغانستان هم څوځواره مخصوصا په دوو وروستیو پېړیو کښی دبد بختۍ کندې ته کش کړ اوددې هیواد بېرته پاته کېدو سبب شو . ددغه ذات البینی اختلافاتو اوکورنیو جګړو په نسبت ؤ چه په ۱۱٤۸ کال کښی نادر قلیخان افشار په شکاره پول دعمل ډګر ته راووت اوافغانستان ، هندوستان اوایران ئی تر پښو لاندی وځپل .

ابدالی احمدخان چه وروسته د خپلو ملی لوړو کارنامو اوخدمتونو په لحاظ ، دخلکودخوا په «احمدشاه بابا» ملقب شو دخپل حکومت په پنځه ویشت کلنیږدوره کښی یوازی دهیوادخپلوی دلاسه وتلی برخی بیرته لاس ته راوستې او یوقوی اومنظم حکومت ئی جوړ کړ گویا تقریبا دابدالی احمدشاه بابا دسلطنت ټوله دوره په لښکر کشیږ اوفتوحاتو تیره شوې ده که څه هم داحمدشاه بابا دوره دلښکر کشیږ اوسیاست په لحاظ او په هند کی دفتوحاتو په اعتبار، دسلطان محمودغزنوی له دورې سره شباهت اوورته والی لری اما دادب، عرفان ، صنعت او بوهی په لحاظ یودبله سره څه مناسبت نه لری ځکه چه احمدشاه فرصت پیدا نه کړ چه دعرفان اوادب په لاره کښی هم پراخ گام ونه واخلی همداوجه وه چه دادوره هم په ادبی اوعرفانی جمود سره تیره شوه . سره له دی چه پخپله احمدشاه بابا په پښتو ژبه کښی پیاوړی ادیب اودلوی دیوان خاوند هم دی ، مگر ددی دوری ادبی آثار اواطلاعات لږموجوددی دلوی احمد شاه بابا دوره دبرښنا دژرتیرېدونکی برېښی په څیر دافغانستان به فضا کښی وخلیدله مگرددې له مړینې وروسته (١١٨٦) دده زامنو و نشو کړای چه دپلار موروثی ملك وساتی اوخوندی ئی کړی، ځکه نو پردیوافتانستان ته لاس وغزاوه اووخت په وخت ئی لحینی برخی تری بیلی کړی! یوازی تیمورشاه داحمد شاه بابا زوی ، دخیلی پاچهی په ٢٣ کاله کښی ، وکړای شو چه دافغانستان سیاسی اوجغرافیائی حدود، دیردیو دیرغلونو په مقابل کښی وساتی دې کورنیږ لږوډیر یوه پیړی پاچهی وکړه مگرددی زمانی لوی برخه په کورنیږ جنگونو اودتیمور شاه د زامنو په ذات البینی مخالفتونو ،تیره شوه او ددغه داخلی اړودوړ په اثر دهیوادخارجی دښمنانو مخصوصا غربی مستعمره غوښتونکو افغانستان ته دطمع سترگی راواړولې اودلمرختیز اوشمال وخواته ئی ورځ په ورځ پرمخ تگ وکړ اوخپل سیاسی او استعماری کمپله ئی وغوړوله د سدوز دشا زاد گانو ذات البینی اختلاف تر ١٢٥٤ کال پوری دوام د رلود هوپه دغه کال کښی امیردوست محمدخان ،دوژل شوی و زیرفتح خان ورور په امارت وتاکل شو اودسدوزوسلسله وشاپدله ددوست محمدخان دحکومت څخه لاپوکال نه و تیرشوی چه انگریزانو (په دی نسبت چه دامیردوست محمدخان په واسطه ئی ، خپلی سیاسی نقشی په افغانستان کښی نشوای تطبیقولای) فراری شاه شجاع دتیمور شاه زوی دقندهار دلاری څخه سره دخپلو مجهزوقو اوکابل ته راوښت . امیر دوست محمدخان دبخاراوخواته ولاړ مگر په ١٢٥٦ کال کښی ئی بیادحکومت دلاس ته راوړلو دپارة لحان د کابل کوهستان ته ورساوه مگر په پای کښی پی لحان انگریزانو ته وسپاره په دغه موقع کښی دخلکو ملی احساسات دشاه شجاع اودانگریزانو په مقابل کښی سخت په شور اوغورلحنگ کښی وو نوهغه وخت چه دوزیرمحمداکبرخان په مشرتوب پاځېدل شاه شجاع ووژل شو اودافغانستان پاته برخه ئی تخلیه کړه اوامیردوست محمدخان ئی بیرته پرتخت باندی کښېناوه اوقندهار اوهرات ئی بیاونیوه تر امیردوست محمدخان وروسته دده زوی امیرشیرعلیخان، دیلار پرلحای کښېناست . په دوو وروستیو پیړیو کښی دی دافغانستان لمړنی پاچاؤ چه سره دداخلی جنگو نو اوښورښونو ئی، دافغانستان دلوی مفکر، لوی سیاسی ادبی اوعلمی سړی سیدجمال الدین افغان په لارښودنه ،دعلم او عرفان دروازه په مملکت کښی و پرانېسته اوبیائی دعلم ، صنعت او معرفت روح ژوندی کړ . دی لمړنی سړی ؤ چه یوه مهمه جریده ئی دشمس النهار په نامه دمملکت په سیاسی او ادبی فضا کښی خپره کړه دامیرشیرعلیخان په دوره کښی سر بېره پرتوجه اوپاملرنی دعرفان په چارو کښی منظم عسکر تشکیل دولتی دوائر تنظیم او کابینه دمملکت دلویو شخصیتونو څخه تاسیس اودافغانستان سیاسی استقلال اعلام شو . مگردې وضعې هم دوام ونکړاودی هم دانگریزانو په تحریك سره له منځه ولاړه انگریزانو بیا زمونږ پرخاوره تېری وکړ اودافغان اوانگلیس دوهمه جگړه (١٢٩٦ هجری) شروع شوه .شیرعلیخان مزارته ولاړ. یعقوبخان ، زوی اوجانشین ئی ، هانگریزانو په لاس اسیرشوچه دگندمك غیرعادلانه معاهدې ئی پرهغه تحمیل کړه .په دغه موقع کښی بیا د خلکوملی احساسات په شوراوغورلحنگ وواوانگریزان په هرلحای کښی ددرندو تلفاتوسره مخامخ شول . ورو سته په داسی حال کښی چه دملت عمومی شورش اوغلیان،دخپل خاوری د ساتنی دپاره دوام درلود امیرعبدالرحمن خان دخارج څخه لحان دهیوا دشمالی برخوتـه را ورساوه انگریزان مجبورشول چه نوموړی دافغانستان دپاچا په حیث وپېژني . عبدالرحمن خان د ١٢٩٧ تر ١٣١٩ کاله پوری حکومت وکړ تردې وروسته امیر حبیب الله خان پاچهی ته ورسېد (١٣١٩ تر ١٣٣٧) ده خپله دوره په هوسا اوراحت تېره کړه د حبیب الله خان وروسته بیادهغه زوی امان الله خان ته نوبت ورسېد (١٣٣٧-١٣٤٧) امان الله خان په مدنی اوعرفانی اصلاحاتو لاس پوری کړ مگرداغتشاش دپېښېدو په نسبت خلچ شو .اوحکومت دسقاو دزوی حبیب الله په لاس ورغی لږوډیر نه اشتی په هیواد کښی داغتشاش او کورنیوجنگونو اوربلؤ هومحمد نادرشاه دحکومت واگی لاس ته را وړل اوامنیت بیرته تامین شو. دیردیؤ په تیره بیاله انگریزانو سره دپښتنودی اړو دوړو او کش وکړپ کوم اثر چه پرادبیاتو باندی واچاوه هغه داؤ چـه رزمی اوحماسی روح چه په فارسی ادبیاتو کښی دباستانی دوری را هیسی شایع و اوډېری شهنامی (یاخدای نامه یاختای نامك ها) تالیف شوې وی مگردتیموریانو دزمانی څخه راپه دېخوا مخننق شوی اوسقوط ته نژدی و ددی دوری دشاعرانو دملی جذباتو په اثر چه دخونړو جنگونو څخه ئی انطباع اخیستی وه، بیرته ژوندی شو او شاعرانو

دافغانستان‌دتاریخ اودانگریزانوسره دجنگونو دواقعاتو به‌باره کښی‌لحینی آثار په‌نظم‌سره ولیکل چه‌نن‌ورځ ئی‌هم بعضی‌موجود دی مثلا یودهغو آثاروځخه دحمید کشمپری اکبر نامه ده چه‌دافغان اوانگلیس دلمړنی جنگ (۱۲۵۵ هجری قمری کال) په‌باره کښی لیکل شوې ده . داحماسی مثنوی د مقصور مسدس دتقارب په‌بحر(فعولن‌فعولن‌فعول) دفردوسی شهنامی په‌وزن‌سره ویل‌شوی‌ده . بل‌ددغی‌دوری دحماسی آثارو څخه دمحمد عزیز خان محمدزائی دجلال آباد دبهسود جمالسی او سیدو نسکی حبیب‌القصائددی دااثر که‌څه‌هم‌دمردفوقصائدودمجموعی اودځینو غزلیاتو ترجیعاتو اومخمساتو څخه‌عبارت دی چه دحبیب‌الله‌خان اودهغه‌د کورنی غړیودستاینی په‌باره کښی لیکل شوی دی ولی په‌ترڅ کښی‌ئی دمهمندو، تیراوافغانستان دنوروسرحدی‌قاموتو جنگونه او کارنامی هم ذکر کړی‌دی او واقعات‌ئی دقصائدو په‌پول دملی‌احساساتو اوهیجاناتوسره په نظم راوړی دی که‌څه هم دااثر دشعری‌جنبی په‌لحاظ څه اهمیت نلری مګر د مملکت دتاریخ اودملی قهرمانانو دمجادلو په اعتبار چه د انګریزانو سره‌ئی کړی‌دی دستاینی وړدی بل‌معروف اثر په‌دی‌زمینه کښی هغه‌جنګنامه ده‌چه دکابل به ده‌یحیی کښی لیکل‌شوې‌ده.دااثرهم په‌مقصورمسدس تقارب‌بحر کښی‌منظوم شوی اودانګلیس‌اوافغان دلمړنی جنګ واقعات بیانوی .

بل‌اثرچه دانګریزانو په‌تحریك اومصرف‌سره لیکل شوی اوچاپ ته‌رسیدلی اومخصوصا داکبرنامی‌دتاثیر دعقیم‌گرزولو دپاره خپورشوی‌دی ، هغه‌دکابل‌دمحاربی منظومه‌ده چه‌دقاسم‌علی نامی سوداګر دخوا په۱۲۷۲کال په اګره کښی چاپ شوې ده دااثر که‌څه‌هم دانګریزانو په‌طرفداری‌ اودملکی و یکتوریا دستاینی په‌باره کښی لیکل شوی‌دی خوځرنګه چه د افغانستان دتاریخ سره ارتباط لری دافغانستان دادبیاتو سره غیر متناسب نه‌دی .ددغوآثارونمونی اودشاعرانوشرح حال به‌پخیل‌لحای کښی ولیکل شی . لکه چه‌ولیکل شو ددوو بهړیو په موده کښی که څه‌هم یوشمیر شاعران دهیواد په‌ځینو ګوټو او سیمو کښی پیداشول اوخپل سرونه‌ئی اوچت کړل خوسره له‌دی‌هم دادب دانکشاف اوتوسعی دپاره دذکرشوبو اړو دوړو په‌نسبت‌زمینه مساعده نه‌شوه ، نوپه‌ټول هیواد کښی ادبی بشپړه سستی او کمزوری‌مستولی‌وه ، یوشمیرشاعران چه‌په‌دغه بهړی‌ کښی‌پیدا شول علت‌ئی داوٌ چه‌درانی تیمورشاه اوزامن ئی چه‌ټول دهوسا ژوند اوعیش عشرت سره عادی‌شوی وو اکثراً د شعری سلیم ذوق اودموزونو طبایعو خاوندان وو اوهم ئی د شعر دیوانونه درلودل ، اوهم هغه شاعران چه په‌دی دوره کښی پیداشوی وو هغه کسان وو چه‌ددربارسره‌یی‌رابطه‌درلوده اوددربار ئی‌ستایه. هم‌دغسی‌ددغی دوری‌څوتنو معروفو شاعرانودسدوزو دشازدګانو له‌دربار سره نسبت درلود چه دمملکت دخارج څخه دشاهزاده محمود اودهغه دامثالو سره افغانستان ته راغلی وو لکه فروغی اصفهانی اوشهاب ترشیزی. په‌دی دوره کښی‌دشعراو ادب پایه دومره لوړه نه‌وه . دشاعری‌ راسلوب اوطرز دهند په سبك وٌ او مخصوصا دبیدل تقلیدمروجوٌ . ځکه چه‌دیوې خواد سد و زو اوقندهاری سردارانو مخصوصا سردارمهردل‌خان مشرقی‌اودهغه وراره غلام محمد خان طرزی اونورو محمد زو سردارانو دبیدل خوانی‌ مجالسو او دبلی خوا افغانستان ته‌دماوراءالنهر دمهاجرینو رسیدلو هندی سبك اودبیدل طرز په پراخی پیمانی سره‌دافغانستان دشاعرانو اوذوق‌دخاوندانو ترمنځ شائع کړ. ځکه چه‌بیدل دماوراءالنهر په‌سیمو اوعلاقو کښی یو خاص مقام درلود اوهلته شاعرانو د قدر په‌سترګه ورته کتل . دهغه‌ځای وګړو په هفته کښی یوه ورځ مخصوصا دبیدل د ویلو دپاره ټاکلې وه چه‌په‌هغه محفل کښی‌ئی ددغه‌لوړاوجایل‌القدرشخصیت یادونه کوله اوآثار اوافکار‌ئی تحلیلول . داتاثیر تردی حده پوری زوروړوٌ چه‌ترنن ورځی پوری د افغانستان شاعران‌دهغه سبك پیروی کوی اودبیدل کلیات‌اوس‌هم ادبی محافلو اومجالسو ته ښکلااوښایست ورښی.داذوق په‌تهره داعلیحضرت شیرعلیخان د زمانی وروسته عمومیت پیدا کړ اوډیر شاعران پیدا شول‌او ډیری قصیدی ئی دهغه دمدحې‌اوستاینی په‌باره کښی و لیکلی . امیر شیر علیخان هم‌پخیل‌وار دعلم‌اوعرفان په‌تعمیمولو کښی‌کافی اوبشپړ کوښښ کاوه . ډیرو چاپخانی دلمړی ځل دپاره ددغه پاچا په‌زمانه کښی راوړلی شوی اوبه نشر اتو ئی پیل وکړ . یوه دهغومطابعو څخه دشمس النهارمطبعه اوبله‌ئی دمصطفوی مطبعه‌وه. په‌دغوچاپخانو کښی سربیره‌پرقانون‌نامو ، اصولنامو فرامینو اونورودفتری اوحکومتی پانیو کتابونه هم چاپ ته رسیدل.چه‌ځینی‌ئی موجوددی اوپه‌خپله موقع کښی به‌دهغوی‌ځنی بحث وشی. پخپله اعلیحضرت شیرعلیخان هم دلیکنی ذوق‌درلود لکه چه‌دشهاب ثاقب رساله ئی چه دوهابیانو درد په‌باره کښی لیکل شوی اود ذکرشویو مطابعو په‌یوه کښی چاپ شوې ده ، شرح کړې ده . سربیره‌پردی‌یې په‌اکثرومجالسو کښی‌فصیحی اومتینی‌خطابی‌ایرادولی‌اوخلکوته‌ئی‌دمملکت دسیاسی‌اوضاعو اودعمومی چارو دمجاریو څخه خبرتیا ور کوله . څرنګه چه‌د مخه اشاره وشوه دشمس النهار جریده هم دده په زمانه کښی (۱۲۹۰هجری‌قمری)خپره شوه دخارجی‌ژبی‌داثاروځخه د ژباړی اساس هم دده په ز مانه کښی کښیښود شو. پښتوری عبدالقادر نامی دروس د عشمانی جنګو نو وقایع د(تایمزاف لندن)څخه ترجمه کړل اوپه ۹۰ صفحو کښی‌ئی دهغه وخت په‌مطابعو کښی چاپ کړل. دهغه وروسته بیادامیرعبدالرحمن خان په‌زمانه کښی دشعراوشاعری‌ بازار لږځه تودشو اونوری‌مطبعی هم مملکت

ته‌واردې‌شولې اوڅینی آثار هم په‌دغومطبعو کښی چاپ شول .
امیر عبدالرحمن‌خان هم لکه امیرشیرعلیخان ، خپل دلیکنی‌اود ادب‌ذوق شرګندواوه لکه‌چه یوتاریخ ئی د تاج‌التواریخ په‌نامه ولیکه‌اوهم‌یې‌د (کلیله‌اودمنه) کتابه څنی د(آئینه جهان‌نما) په نامه‌انتخاب وکړ اوهغه‌ئی په‌چاپ ورساوه. دغسی هم دنا‌پلیون (تزك) کتاب‌ئی وکوت اودخپل ذوق‌دمخی‌یې څینی‌څایونه سم کړل اودخپلو تجربوله‌مخی‌ئی کوم‌شیان چه‌دعسا کرو او جنګی چاروده‌باره ګټورمایل په حواشی کښی اضافهٔ کړل او خپل زوی امیر حبیب‌الله‌خان ئی‌دهغه دچاپ دباره‌ماموریکړ . دحبیب‌الله خان په‌زمانه کښی په‌دغواقداماتواضافه توپ وشو اودزنګوګرافی او تیپوګرافی‌ماشینونه‌هیوادته‌واردشول‌اوپه‌ر آثارپه‌هره‌ډانګه کښی په‌چاپ ورسېدل‌اوخپاره شول . دسراج‌التواریخ کتاب ، دبیدل کلیات ( ددال تر ردیفه پورې ) دسراج‌الاخبار اوسراج الاطفال جریدی ، دمحمود طرزی مولفات اوتراجم‌اونور امثال ئی‌ددغو ادبی اوعرفانی فعالیتونو بهترینه‌نمونه ګڼل کېږی . درسمی ښوونځیو اساس هم‌په‌دغه‌وخت کښی کښېښود شو . دحبیبیې او حربیې‌ښوونځی‌ددی عصردمعروفو ښوونځیوڅخه‌دی دحبیب‌الله‌خان وروسته دامان‌الله‌خان په‌دوره کښی سراج الاخبار خپل څای امان افغان ته‌پرېښود اودسراج الاطفال په‌عوض ارشادالنسوان خپور شو. ښوونځی ورځ په‌ورځ زیات‌شول . یو شمېر زیات شاګردان دزده کړی دپاره خارج‌ته‌واستول‌شول . کتابونواو مؤلفاتوزیاتوالی وموند په مرکز اوولایاتو کښې جریدې طبع اوخپری شوې ځونابېره د اغتشاش لا مله ، دانقافی بر مختیا وڅنډېده. سره‌له‌دی د حبیب‌الله دسقاو دزوی په‌زمانه کښی بیاهم جریدی او ورځپانیی په‌مرکز اوولایاتو کښی خپر یدلی لکه‌چه دکابل په‌ښار کښی‌دحبیب‌الاسلام‌ورځپانه‌لمړی دسیدمحدحسین‌خان په‌قلم اوبیا وروسته دکشککی‌دخواخپریدله. دقطغن په ولایت کښی نهضت‌الحبیب دمولوی محمدبشیرخان‌په‌قلم اوپه‌هرات کښی اتفاق اسلام دغلام سرور خان په قلم اوپه مزار شریف کښی رهبر اسلام د عبدالصمد خان جاهد په‌قلم اوپه قندهار کښی اشرف‌الاسلام اواخبارالایمان جریدی‌طبع‌اوخپریدلی. په ١٣٤٨ قمری کال کښی محمد نادر خان مملکت دبحرانه څخه خلاص کړ اودادب اوعلم وعرفان‌بازارته‌یې یووار‌بیا رونق ورکړ . مکتبونه‌ئی بیا وپرانېستل او نوری جریدی او ورځپانیی ئی تاسیس کړې دکابل ادبی انجمن لمړنی ادبی ټولنه ده چه دنادرشاه په اراده جوړه شوه خو کاله د دغه انجمن دخوا یوه درنده او آبرومنده مجله خپریدله چه اوس‌ئی هم کلکسیونونه موجود دی اوور ځ په‌ورځ هیواد دعرفان اومعارف په‌لحاظ‌نوی ښاېست اونوی ترقی و موندله . بیا په١٣٥٢ هجری قمری‌کال کښی ، ددوی زوی اعلیحضرت محمد ظاهرشاه ته نوبت ورسېد په‌دی دوره کښی نوی علمی او عرفانی حرکت، دلیکوا لو او شاعرانو روزنه او زیاتوالی دهغو بارزو شیانو څخه دی چه مونږ ئی دسر په ستر ګه وینو اوتذکار او تفصیل ته ئی څه ضرورت نشته .

## دافغانستان ددیادلسمی پېړۍ شاعران

عنوان : نوم ئی سید ابوالحسن او تخلص ئی عنوان و .

نوموړی‌دبدخشان د١٣ پېړۍ دشاعرانو څخه‌دی . دی په١١٢٣ هجری قمری کال دبدخشان په‌جرم کښی زېږېدلی او څه موده د هیواد په دننه کښی په زده کړه بو خت شوی بیا وروسته ددرس دا کمال‌په غرض ماوراءالنهر او عربستان ( مکه ،مدینه اومصر) ته‌تللی‌اوهلته ئی اتلس کاله په‌تعلیم اوتعلم تېر کړی‌دی اوپه اسلامی تبلیغاتو‌یې‌هم اقدام کاود څوپه پای کښی دسیاسی ایجاباتو په نسبت ، قسطنطنیی‌ته ولاړ مګر هلته هم مظنون واقع اوتبعید شو دهغه څایه یې بخارا ته سفر وکړ اوبیه هرکلی ورته وشو اما‌په‌عین ځغه‌وخت په قفقاز کښی سخت‌مذهبی مخالفتونه منځ‌ته راغلل چه سید ددغو اختلا فاتو درفع کولو دپاره هغی خواته وخو ځېد اوتبلیغاتو ته ئی پیل وکړ . مګر په ١٢٠٦ هـ ق کال دشپی بخیل خوب څای کښی و وژل شو نوموړی سید هم په‌اسلامی علومو اوهم په‌ادب کښی بشپړمهارت درلودواواشعارئی‌هم ویل لاندی مثلث دده دلوړی طبعې‌نمونه‌ده:

یا رسول عربی باد شه هـر دو سرا
سر برون کن زمدینه که زماطاقت‌رفت
از کف ملت مسلم گـهر عزت رفت
آنکه‌ازفیض و جودت بجهان شدغالب
این ز مـان گشته اسیر ستـم دام بلا
سنگ‌درشیشهٔ ناموس‌وی افگنده قضا
علت ذلت این قوم تـرا معلـوم است
که نـکردند بدل پـیروی قرآن را
نـه نمودند بـجا لا زمـهٔ ایمـان را

تیمور شاه : اعلیحضرت تیمور شـاه درانـی ؛ د افغـانستان

ددیارلسمی پېړۍ دپیاوړو اونامتوشاعرانوڅخه دی. دی دخپل پلار، درانی احمدشاه بابا، له مړینې‌وروسته په ١١٨٦ کال کښی دیاچهی پرتخت باندی کښېناست تیمور شاه پخپله دوه ویشت کلنۍ دوره کښی وکړای شو چه دافغانستان خاوره او سیاسی حدود وساتی . ځکه چه‌دی پخپله شاعرو اوهم شعراو ادب ته قائل‌و، نوددې په‌زمانه کښی شاعران‌راووتل اواثارئی یادګارته پرېښودل تیمور شاه یودیوان لری چه چاپ شوی نه دی مګر قلمی نسخی ئی په محدود ډول موجودی دی دادیوان پرخوږو اوزړه وړونکو رباعیاتو او غزلیاتو مشتمل دی . ستایل شوی

اعلیحضرت، په۱۲۰۷ قمری کال کښی مړشو او دکابل په ښار کښی ښخ شوی‌دی . لاندی غزل دده د سر شار ذوق څخه منبع اخیستې ده :

غزل

رفتست تا ازچشم من ازجسم من جان میرود
جان ازتن بیمار من دنبال جانان میرود
یارب چه‌سازم ازبرش رنجیده سازم خاطرش
بیچیده دامان در کمر سر و خرامان میرود
مارا ز هجرت ای صنم ازمحنت ورنج‌و الم
هر لحظه سیلاب ستم ازچشم گریان میرود
میلش بود بر جستجو بسهر سراغ روی او
هرصبحدم درکوی‌او خور شید تابان میرود
آن دلبر سیمین بدن باطرهٔ مشکین ختن
بهر تماشا در چمن کاکل پریشان میرود
تیمور آن‌مه پیگرم ، دارد بمن جوروستم
ازمن گریزان دم‌بدم سوی‌رقیبان‌میرود

جایز : دی ددرانی تیمورشاه د زمانی د شاعرانو څخه‌دی چه تر ۱۰۱۵ کال پوری ژوندی و ده د تیمور شاه د زوی (شهزاده محمدجلال)دمړینی‌تاریخ‌په لاندی ډول‌منظوم کړی‌دی:

نزد خرد از پی تاریخ او — جایز ما داشت بسی التجا
باسر یاری خروش دوش گفت — رفت چه شهزاده بملك بقا
۱۲۱۵

عارض : عبدالرحمن چه عارض ئی تخلص و د بدخشان ددیارلسمی پیړۍ دلویو اوپیاوړو لیکوالو څخه ګڼل شوی‌دی نوموړی هم په‌شعر اوهم په‌نثر کښی لوی لاس درلود اویوه رساله ئی دلعل بدخشان په نامه په متانت اوپه رنګینو الفاظو لیکلې ده دی دخیل شهرت په‌نسبت دهند دنوابانو دخوا دعوت شوچه هندته وراشی که‌څه‌هم‌ده دتګ دپاره فکر کاوه خو بالاخر منصرف‌شو اوپه خپلی لاندنی ویناپې اکتفاوکړه :

عارضا ازپی روزی تو مرو جای دگر
آن خدائیکه بهندداست به‌بدخشان هم‌هست

دی په۱۳۲۷هجری قمری کال‌بخیل مسقط‌الراس دفیض‌آباد دمیرشکاران په‌کلی کښی مړشو لاندی‌دوه بیتو نه دهغه دی :

غرض ازباده گر مستی است چشم‌یار هم دارد
وراز گل مدعا رنگ‌است آن‌رخسار هم‌دارد
چرا گردون دون پرور بکام‌ما نمیگردد
پریشانی اگر عیب است زلف یار هم‌دارد

فروغی : میرزا محمد واصل ، متخلص په فروغی که څه‌هم اصلا داصفهان و مګر ددرانی تیمورشاه په دربار کښی روزل شوی اویو پیاوړی شاعرو . ده دتیمورشاه په‌مدح کښی لوړی قصیدی جوړی کړی دی لاندی دری بیتو نه دده د۵۵ بیتیزی قصیدی څخه اخیستل شوی دی :

خدیو جهان شاه تیمور که آمد
جهان معانی سپهر فضائل
سپهر سخا افتخار سلاطین
جهان کرم مقتدای قبائل
کمین چاکرش صد چوداراو هرمز
کهن بنده اش‌صد چوجمشید هرقل

فروغی دزمانشاه د جلوس اود تیمورشاه د وفات په باره کښی دمعمی په‌شان داسی وائی :

دوئقش چه‌دلخواه چه جانکاه نشست
خور شید بر آمد از افق ماه نشست
از گردش مهر و ماه تیمور ز تخت
بر خاسته نواب زما نشاه نشست

افغان : نوم‌ئی‌سرهوتك‌و اوپه‌شعر کښی‌یې‌د«افغان» تخلص درلود . نوموړی ددرانی تیمور شاه دجلیسانو اومقربینو څخه‌و چه‌دهغه‌سره‌یې‌مشاعری کولې اوښه‌غزلونه او خوازه شعرونه‌ئی ویل دی د دیوان خاوند هم و . افغان د «عاجز افغان» سره دوستی اورفاقت درلود . د «عاجز» درقعو څخه معلومیږی چه افغان په حضر اوسفر کښی دتیمور شاه سره یوځای‌و . افغان په‌شعر کښی خپل ښه‌قدرت څرګند کړی دی اووده ډېرغزلیات دتیمورشاه دخوا استقبال شوی‌دی لاندی‌غزل دده‌شعری‌قریحی نمونه ده :

آخر زترك خود بمن وما زدیم‌پا
برعمر پشت دست و بدنیا زدیم پا
دل‌ازتپش نگشت گرفتار دام وهم
چون شعله برغبار هوس هازدیم‌پا
ما را تعلقات عنان گیر دل نشد
هرکس به‌عیش دست‌زدو مازدیم‌پا
کردیم‌ترك صحبت‌سنگین دلان‌دهر
چون وحشت شرار بخارا زدیم پا
ازسازوبرگ عیش گذشتیم‌یك قلم
چون‌رنگ عافیه بچمن ها زدیم‌پا
افشانده ایم دست بهمت ز کائنات
آمد هر آنچه پیش زدنیا زدیم پا
افغان گذشت از فلك‌آنسو غبارما
بنگر زعاجزی بکجا ها زدیم پا

شیخ سعدالدین احمدانصاری : مولیناشیخ سعدالدین احمد بن عبدالغفار بن مولینا عبدالعزیز بن مولینا عبدالکریم سیدالحسین والانصاری دافغانستان‌دلوړو شخصیتونو اوعالمانو څخه شمیرل کیږی دی دعرفان او تصوف په‌عالم کښی ډوب‌و ډېر منظوم اومنثور آثار ئی لیکلی دی د ژوند دابتداءڅخه یې

لس کاله په‌وجد او حال کښی تېرشو له‌هغه وروسته بیا حجاز ته‌ولاړ په‌دی‌سفر کښی دنقشبندی په‌سلسله کښی داخل‌شو اودشیخ عمرمکی بن‌علی دصحبت‌څخه‌یې استفاده‌وکړه اوهم د شیخ محمد بن‌شیخ عبدالکریم السمان المدنی خدمت ته‌ورسید . په ۱۱۷۱ کال کښی دو هم ځل خپل وطن ته راغبرګ شو او د کابل په ده یحیی کښی‌یې‌استوګنه اختیار کړه‌او په‌ارشاد اوتبلیغ بوخت شو په‌تصوف او عرفان کښی ئی‌ډېر آثار ولیکل ددغو آثارو شمیر تر۳٤ زیات دی . شیخ سعدالدین نه‌یوالحی یو فائق لیکوال و بلکه‌دشعر طبع ئی‌هم‌درلوده اوډېر عرفانی‌اشعار اوذیقیمته آثار دده‌څخه پاته‌دی دده دمشهورو دیوانونو څخه یوهم د شورعشق دیوان‌دی . شیخ په فارسی او عربی ژبو کښی قدرت در لود لکه‌چه‌دده په‌آثارو کښی د(معدن وحدت) کتاب، په‌عربی‌لیکل شوی‌دی. یوډېرمشهور اثر(دحضرت شیخ په‌حالاتو پوری‌مربوط ) د(نشاة القدس) کتاب‌دی چه په‌هغه کښی ترډېرش زیات د شیخ اثرونه یادشوی دی دا اثر دمصطفی بن احمد ابراهیم‌الهروی متخلص په المخلص تالیف دی چه دشیخ د مریدانوڅخه‌و ذکر شوی اثر دمریدانو په‌غوښتنه اودشیخ په اجازه په۱۲۲۳ کال کښی تالیف شوی دی .

حضرت‌شیخ په ۱۲۲۵هجری قمری‌کال کښی داجل قاصدته هرکلی‌ووایه اودکابل دده‌یحیی‌په‌سیمه کښی ښخ‌شو . دده مبارك مرقد ، اوس هم په کابل‌کښی د خلکو زیارت ګاه‌دی لاندی غزل دده دشورعشق له دیوان څخه اقتباس شوی‌دی :

غزل

خاك من اول بغر بال محبت بیختند
شربت‌توحیدازان‌پس درخمیرش‌ریختند
قالبم راحکم جان دادند درروز الست
بازش از جان حقیقت‌زندگی انگیختند
پای تاسر نکتهٔ فردم بد رس معنوی
حلق‌من بار شتهٔ حرف الف آویختند
تابحق پیوند جانم‌درحقیقت بسته گشت
رشتهٔ امیدم از خلق جهان بگسیختند
کی‌تواند حمله‌آوردن بمن‌حرص وهوا
لشکردیوان زیك لاحول‌من‌بگریختند
شور عشقم حسن معشوقی زعشقم‌جلوه کرد
حیرت اندر حیرتم چون می بجامم ریختند

هرنګه‌چه‌دحضرت‌شیخ سعدالدین‌انصاری اولاده‌اوبازماندګان قول دذوق خاوندان‌وو او شعری طبع‌یې‌درلوده نومونیز ددوی احوال هم‌ددوی دپلار دحالاتو په‌تعقیب سره ذکر کړل :

میر ظهورالدین احمد : په‌شعر کښی «ظهور» تخلص لری اودحضرت شیخ مشرزوی دی ده دخپلی زمانی‌دمتدارلو علومو له تحصیلواوورسته دطب ، کیمیا، جفر، هندسه، اعداداونورو علوموته هم توجه وکړه اوپه‌دغو تولو ځانګو کښی ئی بشپړ لیاقت حاصل کړ اومخصوصا په طبابت او کیمیا کښی‌یې اثر ونه ولیکل په ادب کښی‌ئی هم بشپړ استعداد در لود دده څخه یو مردف دیوان په‌لاس کښی دی . دادیوان خوازه اوپه زړه‌پوری لشعارلری اودغزلیاتو، مخمساتو،رباعیاتو اوډېرو مثنویاتو څخه ډك‌دی . لاندی غزل دده دغزلیاتو نمونه ده :

غزل

ساقیا تشنهٔ شوقم خم‌و پیما نه کجا است
جگر سوخته دارم ره میخا نه کجا است
خانهٔ خلوت زهاد همه بزم غم است
مطرب عشق کجانالهٔ مستا نه کجااست
درو دیوار دبستان گره خاطر ما است
شدم‌ازخانه برون گوشهٔ ویرانه کجااست
حسن در پردهٔ عالم همه ازوی رو شن
کس خبر دار نیامدکه پریخانه کجااست
محفل آراسته شد چنگ ونی و بربط‌کو
شمع‌دربزم‌شد افروخته ویرانه کجااست
در طلب عمر گذشت ونشد این‌ره کوتاه
زودگو بهر خدا منزل جانانه کجااست
دانهٔ سبحه و زنار یکی گشته «ظهور»
عقل رفت‌ازسرمن کعبه وبتخانه کجااست

میرامام‌الدین : متخلص په «درویش» هم دحضرت شیخ سعدالدین احمد انصاری زوی دی درویش په متداوله علومو کښی قوی لاس در لود اوهم په‌شعر کښی درساطبعي‌خاوندودی په‌فارسی ژبه کښی‌یودیوان‌لری چه په‌غزلیاتو،قصایدو، رباعیاتو او نورو شامل‌دی په‌پښتو ژبه کښی‌هم‌خوازه او باخه اشعارلری اودهیئت اونجوم په‌علومو کښی‌یې ځینی اثار لیکلی‌دی .لحکه‌چه میر امام‌الدین دمور دخوا دمیر زیورالدین ( چه‌په حاجی‌صاحب پای‌منار مشهور و) لمسی و، نودحضرت حاجی صاحب میر زیورالدین د حالاتو په‌باره کښی‌ئی یوه رساله لیکلی ده چه پنځه فصله‌لری : لمړی فصل دهغه دنسب په باره کښی . دوهم فصل دهغه دسلوك‌په‌باره کښی. دریم فصل دهغه دژوند دحالاتو په‌باره کښی . څلرم فصل دهغه دعاداتو او کراماتو دخوا رقو په‌باره کښی . پنځم فصل دهغه دمقدمی اووفات په باره کښی ددغی رسالی قلمی نسخه دلیکونکی سره موجوده ده لاندی غزل دده د قلمی (خطی) دیوان څخه اقتباس شوی‌دی :

غزل

خیز و بارغم دهر از دل غمناك انداز
سوی اوپای طلب چا بك وچالاك انداز
نوبهار آمدو خاموشی بلبل عیب است
شورو غوغا بسرا پردهٔ افلاك انداز

باغبان منت خاصیت می در گل ما است
استخوان ریزهٔ مارا به رگ تاك انداز
خار دامان ره دوست بود شغل مراد
آتش نفی برین خرمن خاشاك انداز
ایکه از خنجر هجرتو بدل مجرو حم
مرهم وصل بدین سینهٔ صد چاك انداز
گردلت چهرهٔ مقصود عیان می طلبد
پردهٔ بیخبری بر رخ ادراك انداز
شکر انعام تو شد وردز بان درویش
گر گهی شکوه کند در دهنش خاك انداز

میرقطب‌الدین احمد : په شعر کښی ئی تخلص «فارغ» دی مگر په «داده خورد» یې شهرت درلود فارغ په شعر ویلو کښی دښه قدرت خاوندو او خوازه رباعیات لری . یوه مثنوی ئی د (سمردقند) په‌نامه د سمرقند دښار د وجه تسمیې او د تا ریخی اوضاعو په‌باره کښی لیکلی ده دامثنوی چه‌لږو ډیریوزرویوسل بیته لری په ډیره سلیسه او عام فهمه لهجه د مقصور مسدس هزج په‌بحر کښی (مفاعیلن مفاعیلن مفا عیل) ویل شوی او داسی شروع کېږی :

الهی ساز آسان مشکلم را بنورعشق روشن کن دلم را
چنانم ازمی‌وحدت بکن مست که‌اندر نیستی‌باشد مرا هست

لاندی رباعی هم دده ده :

رباعی

ساقی قضا بکف گر فتست شراب
بیدار شو از غفلت و بر خیز زخواب
عمرتو گذ شته و ترا نیست خبر
هشدار چه میکنی تو ای‌خانه خراب

میر حسام‌الدین احمد : د حضرت شیخ سعدالدین د زامنو څخه‌دی‌چه په «میران‌جیوه» یې شهرت‌درلودلاندی رباعی‌دده ده :

رباعی

باخیالت از سرو سامان گذر باشد مرا
بیو فا ئی جهان اندر نظر باشد مرا
خون بجای اشك می‌آید برون ازدیده‌ام
سخت‌تر غمهای او ازیکدگر باشد مرا

میرنجم‌الدین احمد : د شیخ‌سعدالدین‌زوی‌او په «شیخ‌بادشاه» مشهور دی ده هم دشعر طبع درلوده اوابیات ئی ویلی دی . لاندی رباعی دده د شعری استعداد نمونه ده :

درکدامین چمن ای سرو خرامان شده ای
بکدام انجمن ای شمع فروزان شده ای
دی بگفتی که وفا پیشه کنم حیرانم
چه‌شدامروز که‌ازگفته پشیمان‌شده‌ای

میر نظام‌الدین احمد : دعصری متد اولو علوموځخه یې‌خپله کافی‌برخه اخیستی ده.

نوموړی دځه مودی دپاره په‌معنوی نړۍ کښی مستغرق‌و اود ظاهری اوباطنی علومو څخه‌یې‌استفاده وکړه دی زیات تره په «سید بادشاه» شهرت لری په‌شعر کښی ئی‌هم لاس در لود او کله‌کله ئی شعروایه لاندی رباعی دده‌ده :

بیتو ای نور دوچشمم چشم من‌بی‌نور شد
از فراقت برجگر زخم آمد و ناسورشد
چون برافگندی نقاب ازرخ‌توای ماه‌تمام
از شعاع جلوهٔ حسنت جهان پر نور شد

میر فخرالدین: خلکودی مولوی باله نوم‌لکه ئی په دی لقب شهرت ومونده نو موږی مولوی هم دشیخ سعد الدین انصاری دزامنو څخه‌دی‌چه‌دشعرئی قریحی خاوندو لاندی رباعی‌دهغه‌ده:

رباعی

خویم همه ترك مدعامی باشد فکرم همه جانب خدامیباشد
گردن‌زرضای‌حق نپیچم‌هرگز دست‌من‌و دامن رضا میباشد

میر ناموس الدین : د« گل بادشاه » په‌لقب سره‌یې‌شهرت درلود لاندی مطلع دده‌ده :

ازخدا خواهیم‌خیر خلق وخیر خویش‌را
زانکه بددرپیش‌ناید مرد خیراندیش‌را

موذن : نوم‌ئی خان‌نظرو اوپه«ملا»سره‌یې‌شهرت موندلی‌و تخلص‌ئی موذن اووظیفه‌یې هم‌دزوړتیاتر دوری پوری دشبرغان دجامع امامت اوموذنی‌وه ده دشعر قریحه درلوده دده د یوه تاریخی توك څخه چه‌دپارسا خواجهٔ صد ر دمسجد دتعمیر په‌باره کښی ( دغه مسجد په بلخ کښی تعمیر شوی‌دی ) هر کندپښی چه نوموړی تر۱۲۲۹ هجری قمری کال پوری ژوندی‌و لاندی توك دهغه‌دی :

قطعه

شکر لله کین مقام شریف یافت تعمیر خا لصا لله
شد به ایام خسرو غازی میر حیدرشه‌ستاده سپاه
با عثوبانی‌مکان‌ر فیع بادشاه خواجهٔ‌صدارت‌جاه
چه‌عجب‌مسجدی که‌قومش‌مست ا ز می لا ا له الا ا لله
زدموذن بسال تا ر یخش این‌ندارا که«فاحضروا‌الصلوة»
(۱۲۲۹)

نادر : شاهزاده‌نادرداعلیحضرت تیمور شاه زوی‌دی‌څرنګه چه مورئی گوهرشا دبیګم د خراسانی شاهر خ شاه لوروه ، نودموردنیکه نوم‌یې‌برده‌باندی‌اینبی‌اودنادر په‌نامه ئی‌بللی‌دی‌لکه چه‌دی پخپله یوه رباعی کښی‌وائی .

هر چند بشا هز اد گی مشهو رم
نبود سرو برگ سلطنت منظورم

از سلسلهٔ نادر و تیمورم لیك
نادر بگدا ئی درش مسرو رم

نادر سره له‌دی چه‌دسلطنت‌سره‌یې‌څه‌علاقه نه‌درلوده خو کوم وخت چه ز مانشاه ورور ئی د پاچهی پرتخت باندی کښیناست دی ئی د نورو ورونو سره په‌بالا حصار کښی بندی کړ ترهغه چه‌په ۱۲۲۰ یا۱۲۳۰ کال په۲۱ کلنی خپل عمر کښی مړ اود خپل پلار دقبرله‌څنگه سره په‌عمومی با غ کښی‌ښخ شو . نادرپه شعر کښی دښی قریحی او ر سا طبعې خاوند و لاندی ر باعی (چه ښائی په‌مجلس کښی ئی‌ویلی‌اواجابت ته‌رسیدلی‌وی ) دده‌ده:

تاچند توان بد رد و حرمان بودن
درقید زظلم و جور اخوان بو دن
شد طاقت من طاق نجا تی یا رب
زین بیش نمیتو ان بزندان بو دن

سبحانقلیخان‌درواز‌ی : سبحانقلی بن شاه درواز بن سید شاه دی چه‌ددرواز د پاچاهانو څخه‌و . ده دعصری مروجو علوموڅخه کافی معلومات‌درلودل‌دده حکومت د(شکی) په‌سیمه کښی‌وچه‌په درواز پوری‌مربوطه علاقه‌ده. وفات ئی‌هم په‌دغه ځای کښی‌واقع شوی اوهمالته ښخ‌شوی‌دی.دی‌د۱۲۲۰ او۱۲۳۰ترمنځ ژوندی و نوموړی شعری قریحه‌درلوده‌اوزیات‌تره داشعار موضوع ئی حمد و نعت اوپنداو نصیحت و لاندی بیتو نه دده دیوه مسمط څخه‌چه‌د حضرت پیغمبر (ص) دستایني‌په باره کښی‌دی د نمونی په تو گه اقتباس شوی‌دی :

روی در ملك عدم دربزم شاه‌آورده‌ام
این تن بی‌توشه را مهمان شاه آورده ام
تحفه از شرم خجالت زاد راه آو رد ه‌ام
نقد در بازار او عفو گنا ه آو رده ام
مفلسم دست طمع در بار گاه آ ورده ام
نیست جای د یگری اینجا پناه آو رده ام
عاصیم نعت نبی را عذر خواه آررده ام
رحم بنما برقلی کان در دهان اژدها است

عاجز افغان : نوم‌ئی لعل‌محمداودملاپیرمحمدزوی‌اودکابل‌دبارانی څخه‌و.دی‌په‌دولسمه‌هجری‌قمری‌پهری‌ کښی‌په‌کابل کښی‌زېږدلی‌دی څرنگه چه‌نوموړی‌اصلادطبیب‌زاد گانوڅخه‌واودطبابت‌په‌باره کښی ئی‌ډېر کوښښ کړی اوشهرت‌یې‌حاصل کړی‌و نو به۱۱۹۳کال کښی دتیمورشاه دخوا دعبدالشافی په‌خطاب‌سره مخاطب‌شو اوددربار دطبیبانو په ډله کښی داخل‌شو . عاجزځرنگه‌چه‌په‌طب کښی‌دنورو خپلو اقرانوڅخه پیشقدم و دغسی هم په‌شعر اوادب کښی دخپلو معاصرینو پیش آهنگ‌بلل‌کیده دده دطبعې قوت دده داشعارو ددیوان‌څخه ځرگند دی . د غسی‌هم‌دده دلیکنی قدرت درقعاتو اومشاتو څخه برښی . نو موړی دنظم‌په‌تولو څانگو اوبرخو کښی شعرونه ویلی‌اوبریالی گټل‌شوی‌دی. عاجزدبیدل دمکتب دپیروانو څخه‌دی اودبیدل د کلام تقلیداومتابعت‌یې کړی‌دی .دده دیوان چه‌پرغزل،رباعی،قطعه،ترجیع‌بند ،مخمس،رقعه، قصیده‌او ساقی‌نامه‌مشتمل‌دی،لږوډېر(٦٥٠٠)بیتونه‌لری. دده‌دوفات تاریخ څرنگه چه‌دمیرزا عبدالواسع طبیب دیوی قطعی څخه‌څرگندېږی ۱۲۳۸ هجری‌قمری‌کال‌دی چه‌په‌کابل کښی واقع شوی‌دی اودتپه مرنجان په‌جنوبی‌خواکښی ښخ‌شوی دی . لاندی غزل دده ده :

غزل

دارم ازبادهٔ غم ساغرصهبا لبریز
دیده از اشك ودل ازخون تمنا لبریز
نتوان زدمژه برهم که به نظارهٔ تو
چشم‌آئینه ام از اشك تما شا لبریز
جزدورنگی نتوان یافت‌زاربابجهان
بود این باغ زبوی گل رعنا لبریز
لامکان نیز پراز پرتومهررخ اواست
نیست‌زین نورهمین وسعت دنیا لبوبز
باده کونشه کدام‌است که‌درمحفل‌درد
سینهٔ ما بود از قلقل مینا لبریز
بگذر ازخویش اگرجلوهٔ اومی‌خواهی
بوداین خانه هوایش ز من وما لبریز
خاردردیدهٔ دشمن که مرا دررهٔ عشق
ازگل‌آبله شد باغ کف پا لبریز
گل‌نه‌تنهاست‌خریدارتو بامشت زری
بود ازنقد گهر دامن دریا لبریز
نیست بیجا به چمن مستی بلبل عاجز
ازمی رنگ ببین ساغر گلها لبریز

ذوقی: نوم‌ئی‌میرغلام‌شاه تخلص‌ئی ذوقی اوددر واز په(محل جوی) کښی‌یې‌استو گنه‌درلوده. ذوقی‌دلیك ولوست اودعلم‌وادب تحصیل په مهارت سره هلته انجام کړی لوی‌سړی شوده له‌سل کاله‌زیات ژوند گړی‌او بالاخر په ۱۲۵٤ هجری قمری کال کښی د(وخیل) په‌سیمه کښی چه ددرواز دسیموڅخه ده‌مړشو دغزلیاتو په‌هر تخمیس کښی یې‌مخصوص‌ذوق‌درلوداو په تپره بیادحضرت بیدل غزلیات‌ئی تخمیسول لاندی‌غزل دده دی :

غزل

بندهٔ فرمان پذیر حضرت جبار باش
امت آن شهسوار عرصهٔ بازار باش
معصیت بنیاد هستی را بغارت می برد
ترك خود بینی کن‌ودرذکر استغفار باش
مرشد آن راه حق باما اشارت کرده‌اند
دامن شرع نبی راگیر ودر رفتار باش

زندگی خواهی دلادرزلف‌خوبان‌شوگره
ذوقیا این پند رادائم تو درتکرار باش

کشوری : د بلخ د دهدادی د دیارلسمی پیړی د صوفی مشربانوشخه یوتن‌و . نوم‌ئی میرعصمت‌الله‌اوتخلص‌ئی کشوری‌دی کشوری‌سالك‌اودطریقت‌پرلاره‌خوځیدونکی‌و . ده‌په‌بهوزلیتوب اوخضوع ژوندکاوه نوموړی په ۱۲۵۷هجری قمری کال وفات شوی دی ده شعرطبع درلوده اویودیوان ئی‌هم‌په‌بشپړ سلاست ترتیب کړیدی . لاندی دوه فرده‌اویوه رباعی دده ده :

فرد

تاچند مرا سوزی هرگز نکنی رحمی
منصور سر دارم ای دلبر بی پروا

رباعی

درگلشن توصید مرا راهنما در عالم تحقیق مرا راهنما
ای‌دوست‌بمن‌بنگر ورحمی‌بنما یکذره‌بعشق خودمرا راهنما

فرد

لاابالی راچه می پرسی زتقوی زاهدا
های‌وهو باشد طریق عاشقی مستانه‌را

حاذق: نوم ئی جنیدالله ، د صوفی اسلام حضرت شهید زوی اودحضرت خلیفةالله‌بردی مشرورور و . ده لمړی ځل «واقف» اوبیا د «حاذق» تخلص غوره کړزمونږدهیواد تذکره‌لیکونکو دده دزېږیدنی ځای مختلف ښودلی‌دی بعضو دی بخارائی ځینو قیصاری او ځینو بد خشی او یو شمېر نورو هروی بللی دی ولی‌اکثرا په دی متفق‌دی چه‌جنیدالله حاذق‌اصلادهرات‌په‌کرخ کښی زېږدلی اوهلته روزل شوی اولوی شوی دی لکه چه دحاذق‌پلار هم موده دبخارا لوی قاضی و ده‌بخیله هم هم‌موده هلته تېره کړی ده ، نو بخارا را ته ئی هم نسبت شوی دی حاذق دهغه فضل و کمال‌په‌نسبت ، چه‌په‌شعر اوادب کښی‌پی‌درلود دفرغانی دسلاطینو او امیرانو په دربار کښی لاره‌پیدا کړه او هلته‌ئی ښه‌هرکلی لیده اوهم‌ئی احترام کېده. دی‌له۱۲۱۶هجری قمری‌کال‌وروسته‌بخاراته‌ولاړ‌اودهغه‌مودی‌وروسته‌پی‌امیرعمرخان‌ته چه‌په‌خوقند کښی‌و لمان‌ورساوه‌بیا دامیرعمرخان له‌مړینې وروسته بېرته بخاراته راغبرگ‌شو اودنصرالله‌خان سره‌یوځای‌شو مگر دده‌دظلم اوتیری په اثر چه‌پررعایاؤ باندی‌پی کاوه خوائی بده شوله اویوه قصیده‌ئی دده‌دظلم په‌باره کښی و لیکله . کوم‌وخت چه داقصیده د حاذق د مخالفینو په وسیله پاچاته ورسیده نودی تردی‌حده‌پوری په‌قهرشو چه دده دوژلودپاره‌پی ملاوتړله حاذق دقضیی څخه خبرشو اوتښته‌پی وکړه او خپل‌وطن افغانستان ته راغبرگ‌شو . نصرالله خان سره له دی بیاهم دده د وژلو څخه منصرف نه شو او هوتنه ئی‌وگمارل چه‌په نتیجه کښی ئی‌حاذق په۱۲۵۹کال‌دقندز په‌ښار کښی‌دخوب‌پرځای‌په‌قتل‌ورساوه. نوموړی د نظم په ټولو انواعو کښی مهارت در لود . غزل ، قصیده ، رباعی ، قطعه ، مخمس اوامثال‌ئی خورا استادانه ویل د شعر په‌فنونو کښی‌پی‌هم‌لوی لاس‌درلودسربیره پربشپړ شعری دیوان یوه مثنوی هم لری چه د حاذقی یوسف‌زلیخا په‌نامه‌پی شهرت موندلی‌دی . لاندی ذوقافیتین غزل دده ده .

غزل

ازتظلم گاه گردون هرکه عدلش جاست جست
زین کمان چون‌تیرهرکس داشت وضع راست رست
شعله را خاکستر از بال هوس دارد قفس
سرکشی های غرور آخر چو نقش پاست پست
ریخت گرخون سحرخورشید ، شامش ریخت‌خون
بسمل امروز را در دامن فردا ست دست
بسکه خود بر خود چومی جوشیده‌ام از بیخودی
هم ز مستی های ما سرتا به پای ماست مست
حسن معنی جلوه کرد و چشم صورت بین نشد
رخ‌زاغیار آنکه چون گل عارض زیبا است بست
حاذق از اسرار معنی خاکساران آگهند
گنج در هر جا که آثار خرابی هاست هست

شهاب ترشیزی : که څه هم ددی شاعر د زیږ ېدنی ځای دایران ترشیزدی مگر خپل ژوندئی په هرات کښی تیر کړی او دشهزاده محمود (دتیمورشاه زوی) په دربار کښی حمایه او روزل‌شوی دی اوخپل دیوان ئی ددغی کورنیو دستاینی دیاره وقف کړی دی په‌غالب گمان کوم وخت چه‌سدوزی شاه‌محمود دایران راغبرگ‌شو .شهاب‌هم ورسره راغی اودیوه عمردپاره ئی دده په دربار کښی مداحی‌وکړه . شهاب دلوی لاس خاوند یوشاعرو او دخبرو په انواعو کښی ئی‌قدرت درلود . دی یولوی دیوان هم‌لری چه لویه برخه ئی د سدوزو دکورنیو‌مخصوصا دشاه‌محمود اوتیمورشاه دقصیدو اودمدحی‌توکونو څخه تشکیل شویده دی‌سربیره دقصایدو پردیوان یوه‌هزلی اوهجوی مثنوی هم‌دفردوسی دشاهنامی په‌بحر کښی لری .

شهاب دتیمورشاه درانی به مرثیه کښی یوترکیب بندلیکلی دی چه‌پراوه‌بنده مشتمل‌دی اوپه ډېر مهارت سره‌ویل شوی دی مونږ دنمونی په توگه دده د ترکیب بند لمړنی بند په لاندی ډول لیکو :

شرم بادت ای فلك کافاق را بر هم زدی
آتش بیداد وکین د ر خرمن عالم زدی
از سیاهی‌کاخ کیوان رامصیبت خانه کرد
دود این‌آتش که اندر دودهٔ آدم زدی
بی سبب ناگه زسنگ منجنیق حادثات
رخنه در دیوار این سر منزل خرم زدی

از سر شاه جهان افسر بخاك انداختی
جامهٔ شهزاد گان را در خم ماتم زدی
اهرمن‌وار ازسلیمان زمان نا کرده شرم
تخت رادادی ببادو سنگ برخاتم‌زدی
آفتاب مملکت گردید پنهان در کسوف
آخرای‌صبح‌ازچه روخندان‌تودیگردم‌زدی
روز گارا روز گار خرمی بر تافتی
هر کجا هنگامهٔ بود از فرح برهم‌زدی
کارعالم گرنه‌درهم خواستی کردی چرا
نقش سنگ قبر نامی را که‌بر درهم‌زدی
شب‌سیه پوشید ودامان شفق‌شد پر زخون
زین شبیخونی که بر شاهنشهٔ عالم زدی
آسمان هرشام برخاك افگند زرین کلاه
در عزای خسرو عالی مکان تیمورشاه

انور : نوم اوتخلص ئی «انور» دی چه به ۱۲۰۰ کال کښی زېږېدلی او دبدخشان په‌سرشهر بهارستان کښی روزل شوی اوهمالته لوی شوی دی . دی‌دفضل اوکمال دېښپر و لو دپاره هندوستان اوبخاراته تللی اوهلته دعلمی لوړو مر تبوته ورسېد اواکثرو خلکوددې څخه استفاضه کوله . په۱۲۳۳ کال کښی، خپل وطن بدخشان ته‌راغبرگ‌شو . ده‌څرنگه چه په‌دینی علومو کښی‌لوړمقام اوښپر مهارت درلود دغسی هم‌په شعر او خطاطی کښی دلوی لاس خاوندو مخصوصا عربی ثلث خطئی په‌ښایسته توگه‌لیکل . دده‌دمړینی نیټه څرگنده نه‌ده‌مگرد۱۲۵۰تر ۱۲۶۰ پوری‌یې ژوندکاوه .لاندی‌غزل دده‌دی :

غزل

زلف‌مشکین سایبان چون‌ابر بر رخساراو
خال زنگی پاسبان درگلشن اسرار او
سروپا در گل ز انداز خرامش در چمن
آب ازرفتار ماند از حسرت رفتار او
غنچه ازلعل لبش اکسب تبسم کرده‌است
چاك زد گل پیرهن ازغیرت رخساراو
قمریان باسرو قم قم گوکه او آمدبباغ
فاخته کوکو کنان در بند استفسار او
بلبلان چهچه زنان‌در گلبن حسنش هزار
سوخته پروانه پر ، ازپر تو دیدار او
در تکلم چون مسیحا ، مرده راحی میکند
لحن داؤدی‌است گویا شیوهٔ گفتار او
عمرها شد چون گدایان حلقه‌بردر میزنم
بود که بهر بینوا خیر آید از سر کار او
انور ازاهل بدخشان سر خروئی کم‌مباد
تا بصحرا لاله ، تالعل است در کهساراو

شجاع : شاه شجاع ددرّانی تیمور شاه زوی د افغانستان د دیارلسمی پېړی‌دلویو شاعرانوڅخه شمېرل شوی‌دی چه‌ددیوان خاوند هم‌دی . دی‌دخپل ژوند په‌دوره کښی دوه‌واری حکومت ته‌رسېدلی اویوه اوزده زمانه‌ئی ، دخپل ورورشاه محمود او د امیر دوست محمدخان‌سره په‌جنگ‌جگړو تېره کړه. شاه‌شجاع دشعری ذوق اوقریحی‌خاوندو اوکلیانی دیوان‌لری چه‌څو واره په هندوستان کښی چاپ ته رسېدلی‌دی . دغه دیوان پرغزلیاتو قصایدو ، مخمساتو،رباعیاتو ، مثنویاتو ، ترجیعاتو ، ترکیباتو مستزادونو اونورو شامل‌دی . د هندفارسی زبانانو دشاه‌شجاع دیوان په‌مختلفو نومونو چاپ کړی‌دی . اودغه‌شان بهل‌بهل انتخابات‌یې‌هم‌څنې‌کړی او په‌چاپ‌یې رسولی‌دی.شاه‌شجاع په‌نثر کښی هم‌لاس درلود. لکه‌چه خپله‌دژوندروزنامچه‌ئی د (واقعات شاه شجاع ) په‌نامه لیکلې او دلود هیانی د مجمع البحرین به چاپخانه کښی‌یې‌به۱۲۵۸ کال په‌چاپ ورسوله چه بیاد وهم ځل دافغانستان دانجمن‌تاریخ دخوا‌په۱۳۳۳ کال کښی طبع اوخپره شوه شاه شجاع داشعارو په‌وېلو کښی دبیدل ، حافظ ، سعدی فغانی اونورو پیروی کړې ده لاندی غزل دده کلام‌نمونه‌ده :

غزل

رساندعشق‌اومارا بکام آهسته آهسته
فتداین‌آهوی وحشی‌بدام آهسته‌آهسته
ز یمن همت صبر فراوان اینقد ردانم
که گیردکار من‌آخر نظام‌آهسته‌آهسته
نهانی عشق ورزیدن‌مرادلتنگ‌میدارد
کندرسوا مرادرخاص‌وعام آهسته‌آهسته
کشم‌من‌نقش تصویر رخش‌برلوح دل‌هردم
کنم این‌مشق روزوشب‌مدام‌آهسته‌آهسته
شده عمری‌خیال‌وصل جانان می‌برم درسر
که گردد‌بخته‌روزی فکرخام آهسته‌آهسته
بدام آوردن‌آهونگاهان سخت‌دشواراست
بتان را می توانم کرد رام آهسته‌آهسته
رساندی‌نامه‌چون قاصد به‌آن‌معشوق‌بی‌پروا
ادا کن باادب از من پیام آهسته آهسته
وگرپرسد‌به‌تندی‌از که این‌مکتوب‌آوردی
بصد نرمی بیر از بنده نام آهسته آهسته
شجاع الملك هرچند از غم آنماه گداهیدم
هلالم میشود ماه تمام آهسته آهسته
(شاه شجاع دی وکتل شی )

هبا : اصلا دبدخشان ددروازو . دی‌دافغانستان ددیار لسمی پیړۍ دشاعرانو څخه‌دی . هرنګه‌چه‌حدس وهل شویدی ده‌خپل ژوند د ۱۲۰۰ او ۱۲۶۰ قمری‌هجری کلونو ترمنځ تیر کړی دی نوموړی دشعری طبعې‌خاوندو اویودیوان هم‌دنظم په اقسامو کښی لری دی پخپل کلام معزورو لاندی غزلئی ددی مد عا مثبت‌دی : غزل

ز گمنامی چوعنقا صاحب‌نام ونشان گشتم
جرس فریاد محمل بستن هر کاروان گشتم
بهر بزمی گذر باکردم ازقدر سخن سنجی
چوتار سبحه‌بهر صددهن یکسر زبان گشتم
گذر ای مد عی از د عـوی شعر بلند من
پمیدان سخن سر باختم معجز بیا ن گشتم
طلوع صبح معنی می دمد کز مشرق طبعم
بگردونهای‌مضمون‌ماه‌وانجم ترجمان گشتم
حیات خضرو اشعار هبا جا وید می ماند
به اقلیم سخن اسکندر صا حبقرا ن گشتم

نقیب : نومئی قاسم‌خواجه ، تخلص ئی «نقیب» اومشهور په «ایشان» دی نوموړی دتیمور شاه دزمانسی څخه بیاتر ۱۲۶۶ هجری قمری‌کال پوری ژوندی‌و اوپه‌همدغه ذکرشوی کال کښی مړشوی‌دی . دی اصلادخلم اودهنه لحای دوالی ، میر محمدامین ندیم‌ودشعرطبع‌یې‌درلوده اوکله‌کله ئی دخوش‌طبعی‌دپاره‌بیتونه ویل لا ندی توک چه‌دوالی دمدرسی دتاریخ په باره کښی ویل شوی‌دی ده‌دی : قطعه

میر محمد امین والـی والا تـبار
شاه سکندر حشم میر سلیمان سریر
خسرو فرخ نژاد کرد بما از کرم
خانقه با صفا مـدرسهٔ بی نظیر
پنجهزاراشرفی صرف بکـارش‌نمود
خاص برای خدا آن شه بیضا ضمیر
یافت دوتاریخ رافکر نقیب حزین
(مدرسهٔ‌اهل‌فضل) (مدرسهٔ دلپذیر)
۱۲۵۵ ۱۲۵۵

لاندی بیت هم دده دی :

جان‌شیرین اینـقدر برحسن مینازی مناز
خط‌بگردعارضت چون سبزه زارآمدبیرون

میر یوسف‌علیخان: چه‌د څه‌مودی دپاره دبدخشان دچارو واګی دده په‌لاس کښی و دافغانستان ددیارلسمی پیړۍ دلویو فضلاو شعراوو څخه‌دی . دی‌نه‌یوازی پخپله شعردوست اوذوق‌خاوندو بلکه نور شاعران اوفاضـلان ئی دهـوایزو او مکا فاتونو په وسیله ، روزل اوتشویقول ئی . کله‌کله دده هم عصر شاعرانو دده په اشعارو کښی مسابقی کولی دی په ۱۲۶۸ کال کښی دخپل وراره دلاسه په‌قتل ورسید . لاندی مطلع دده ده :

خنجر ناز کـه امشب ریختی خو نم بخواب
از غوان آسا زسر تاپای گلگو نم بخواب

احقر : میرمحمدنبی احقر اصلا دبدخشان و ده متداول علوم هلته زده کړ ل او د یوی سلسلی مملو ماتو له لاس را ورلو وروسته دمیریوسف علیخان دبیر اومنشی‌شو ،او ترمرګه پوری دنوموړی ترحمائی او روزنی لاندی پاته شو . احقر په نظم اونثر کښی دښه قدرت خاوندو اوقیمت دار اثارئی په یادګار پرپښودل . په ۱۲۶۱ هجری قمری کال کـښی ئی یو کـتاب د(تکملة الریاض) په‌نامه دمیریوسف علی‌خان په‌عنوان و لیکه چه‌مشتمل په‌اتوروضودی . سربېره پردی یوشمیرنور زیات‌اثار هم‌لری چه‌پرمشهورئی‌حدائق‌الحقایق (دعروضو په‌څانګه کښې) دعلم قوافی رساله، هشت‌بهشت (په‌ادبی ، حکمی، فلسفی،اودینی علومو کښی) ، کتاب‌فلسفه ، کتاب‌البدایع، تحقق‌اللغت او داسی نور دی . احقر یو داشعا رو دیوان هم درلود چه‌په قصائدو ، غزلیاتو، رباعیاتو اونورو شامل ؤ، دغه‌شان‌یې‌دوی‌مثنوی، یوه دلیلی ومجنون په‌احوال اوبله دحضرت امام حسین رضی‌الله عنه دشهادت په‌باره کښی درلودی. احقرپه‌پای کښی دسل په ناروغتیا اخته‌شو اوپه۱۲۶۹ هجری قمری کال کښی مړاودرستاق په‌بدخشان کښی‌ښخ‌شو،لاندی‌مطلع اورباعی دده د کلام نمونه‌ده :

مطلع

دربیابانیکه آمدروح مجنو نم بخواب
محمل لیلی نمایان گشت‌هامونم بخواب

رباعی

ا حقر نفسی بیا د معبو د بر آر
جزدوست زدل‌هرآنچه نابودبرآر
د ر خر من هستی فنا آ تش زن
سر را ز در یچهٔ بقا زود بر ار

صوفی : ایشان صوفی هم دبدخشان او دمیریوسف علیخان معاصرو،ده‌په شعر کښی رساطبع درلوده اوپاخه اشعار ئی ویل لاندی بیتونه دده د سرشاری قریحی نمونه‌ده :

میگذشت ازنظرم چشم سیاهی عجبی .
او نگـاه عجبی کرد ، من آه عجبی
لشکر غمزهٔ او ملك دلم کرد خراب
پاد شاه عجبی بود و سیـا هی عجبی

خواجهٔ بدخشی : نوم ئی محمد موسی اوتخلص‌ئی خواجه‌او دبدخشان دی.نوموړی دلویو شاعرانو او د میر یوسف علیخان معاصرو،لاندی‌مطلع دده‌ده:

چونکه آمد نشهٔ لبهای میگو نم بخواب
ساغر دور پیاله داد گردونم بخواب

عبدالنبی بدخشی : مشهور په «داملا» اودمیر یوسف علیخان دهم صحبتو شاعرانو څخه و ، لاندی بیت ئی دهغه په پیروی ویلی دی:

نی همین چشم از تغافل خوانده افسونم بخواب
یاد یا قوت لب او داده معجونم بخواب

میرطوره خان : دبدخشان دمیرزادګانو څخه یو تن اودشعری ذوق اوقریحی خاوند و . ښه اشعار ئی ویل او لطیف خیالات او پاسته افکار ئی پخپلو اشعارو کښی را وړل . لاندی بیت ئی دمیر یوسف علیخان دمطلع په پیروی په ښه توګه اداکړی دی :

در خم اندیشه تا کی چون فلاطونم بخواب
حل نگردد دقت سیر شبیخونم بخواب

اظهر : نوم ئی میر احمد المجددی او تخلص ئی اظهر دی. نسب ئی په اوه پښته مجدد الف ثانی ته رسیږی . نو موړی په ۱۲۰۶ کال په پښور کښی زیږیدلی او خپل ابتدائی تحصیلات ئی دپلار څخه اخیستی او دلوړو تحصیلاتو دپاره بخارا ته تللی دی. ده په بلخ ، بخاراء تاشکند، یارکند ، هندوستان ، ختن او نورو ښارونو کښی سیاحت کړی، او په حال اوقال علوموکښی دخلافت اومولویت مرتبی ته رسیدلی دی . دی په ۱۲۳۵ کال کښی بدخشان ته زاغلی او دبدخشان والی میر سلطا نشاه او دنورواهالیو په غوښتنی سره یې هلته استوګنه اختیار کړه، اوتدریس اوتبلیغ ته ئی اقدام وکړ .دی په ۱۲۶۹ کال کوم وخت چه مشر قی ترکستان وخواته دخوځېدو په حال کښی و ، په یارکند کښی مړشو. ده زیات اثرونه لیکلی دی چه په هغوی کښی لاندی کتابونه دیا دونی وړدی: جامع الذرات اوه مجلس ،اربعین (څلوښت حدیث سره دشرحې) ، صنایع الرحمن، سبیل الرشاد، مناقب طاهرین ، وظایف النبی، اسرارالمحسنین، ربیع المساکین، مخمس د یوان په حمد اونعت کښی ، دمثنوی دغزلیاتو ډیوان شپږ جلده ، بحرالمواعظ ، کنزالسلاطین ، طریق الطالبین ، سلسلة الاولیا، ذکرالسالکین ، اومواهب غیب . لاندی غزل دده دکلام نمونه ده :

غزل

دانی که لاله رازچه خون گشت جام او
از عمر نیمروز بود تلخ کام او
نام نکو نتیجهٔ عمر ابد دهد
هرگز نمیرد آنکه نمرداست نام او
صیادما که دانهٔ خالش تهی مباد
مرغی نیامد آنکه نشد صید دام او
هرچند جای لعل بود تاج خسروان
خون گشته ازفراق بدخشان تمام او
اظهر کسی که نشئهٔ صبح وصال یافت
باشد چوجام باده شفق مست جام او

حیرت بلخی: نوم ئی عبدالعزیز او دقاضی عبدالغنی بلخی زوی دی عربی مقداول کتابونه ئی دخپل پلار څخه ویلی او بیاوروسته یې دلوړو تحصیلاتو دپاره بخارا اوماوراءالنهر او نورو ښارونو ته سفر وکړ او په لنډه موده کښی ډېره استفاده و کړه اوهلته دریاست اوقضاوت لوړو منصبونو ته ورسېد او څه موده ئی په ماموریت تهره کړه دی په ۱۲۵۰ هجری قمری کال کښی مړشو نوموړی سر بېره دعلمی فضایلو په درلودلو، دلوی لاس خاوند شاعرهم و کله کله ئی پاخه اشعارویل لاندی بیتونه دده دی :

کبردرسروصل بر کف حسن او بر دیده ها
راحت اندردل همی بودیم از وصل نگار
هجر اودرچشم ما آب وبدل آتش فشاند
بر کف ما بادو بر سرخاك کرد این طرفه کار
مبر از حدیث من اینهمه رعنائی را
تامن از حسد نبرم شیوهٔ رسوائی را
بی جمالت گل بستان به نگاهم خاراست
بچه تسکین بدهم این دل شیدائی را
تا متاع غم ودرد تو خریدم از عشق
دادم از کف همگی نقد شکیبائی را

مشرقی : سردار مهردلخان بن سردار یاینده محمد خان بن حاجی جمال خان بارکزی دی سردارمهردلخان شعری ذوق اوقریحه درلوده او «مشرقی» ئی تخلص و کړه څه هم دده داکثرو غزلیاتو مقاطع پخپله دده په نامه مزین دی مګر زیات تره یې په مشرقی سره شهرت درلود دی په ۱۲۱۲ هجری قمری کال کښی زیږیدلی او په علم وفضل اوشعراوادب کښی لوړی پائی ته ورسېد مشرقی په عرفان اوتصوف کښی ډېره توجه وکړه او په دی آرامه اوبی دغدغی فضا کښی ئی خپل ژوند تېر کړ ده په سیاست اوحکومتی چارو کښی لږ مداخله کوله دشعراؤاو فضلاو سره ناسته اوولاړه او ګړېدل دده خوښ ومهردلخان دهغوو ګړو څخه دی چه دقندهار ددبستان او په هغه ځای کښی دبیدل دمکتب دبنیاد اینښودونکو څخه شمېرل شوی دی ده فضلا او شعرا د خپل څنګ سره غوندول په فارسی ژبه کښی یې بشپړ مهارت درلود لکه چه په ذکر شوی ژبه کښی یې یو دیوان ترتیب کړچه دخبرو په اقساموا نواعو شامل دی اوهلورزره بیته لری یوه قلمی نسخه ئی دکابل په موزه کښی شته دی اوخپینی نوری نسخی ئی هم دنورو وګړو سره پیدا کېدای شی ده سر بېره پردې یوه مثنوی چه هلورزره بیته لری دحضرت مولانای بلخ په شرح باندی انشا کړی ده ! مشرقی له خپل نه پنځوس کاله ژوند وروسته چه دعلم اوفضل په لاره کښی صرف شوی دی په ۱۲۷۱

کښی‌ددی نړۍ سره‌خدای پامانی وکړه لاندی‌غزل چه‌دصائب اصفهانی به‌استقبال ویل شوی‌دی دده دی :

غزل

درد دمبدم ما را عیش جاو دانی هاست
روز عید نوروزم ، روز ناتوانی ها ست
ترك‌من سرت گردم ، نوش یکدو جام می
ازخمار دوشینه ، برسرت گرانی ها ست
ساغر جهت پر شد سقف نه فلك بنشست
ای‌سحاب‌چشم‌من، این‌چه جانفشانی هاست
گه‌سبوی بردوشم ، گاه جام می بر کف
ناصحا مکن عیبم ، عالم جوا نی ها ست
ای صبا بگو از من ، بابت مسیحا لب
زنده‌ام جداازتو، اینچه سخت جانی هاست
سینه ازخدنگ غم ، مهردل مشبك شد
اشك سرخ برروبم ،عشق‌رانشانی هاست

(مهردلخان «مشرقی» دی وکتل‌شی .)

میرزا خان : اصلا دکابل دشاعرانوڅخه‌و . دچراغ انجمن دلیکنی به‌اعتباردی دتیمورشاه په زمانه کښی ز ېښېدلی اودهغه دپاره‌ئی قصیدې ویلی‌دی چه‌لاندی بیت دهغوڅخه دی :

شاه‌تیمورآنکه ازبیمش لرزه‌برجان اژدراندازد

ده له ۹۰کاله زیات ژوندکړی‌اوپه ۱۲۷۵ کال کښی‌پې‌وفات موندلی اوپه‌شهداء صالحین کښی ښخ‌شوی‌دی . امکان‌لری چه ددرانی احمدشاه دباچهی په‌اواسطو کښی ز ېښېدلی‌وی . لاندی بیت دده دی :

منکه در آئینه دهر تما شا دارم
حیرت از آمدن دورمسیحا دارم

بعضودهغه نوم احمداوتخلص‌ئی«میرزا» ګڼلی دی اولاندی غزل دده دپراګنده آثارو څخه بولی :

غزل

بخون میغلطم ازیاد نگاه چشم جادوئی
به‌آتش‌می‌خورم‌صدغوطه‌همچون تارگیسو ئی
دمادم مرغ دل رابرق حسنش میکند بسمل
ندارد طاقت زخم دگر از تیغ ابروئی
درون پردهٔ دل با خیال نازنین خود
عجب‌خوش خلوتی دارم بخلق وخوی‌نیکوئی
جنونم وحشت ایجاد است دربزم و صال تو
سراغم گر کنی دارم رم جولان آهوئی
شکست‌رنگم‌ازضعف نفس خون میکند طاقت
چسان آینه دارد در مقابل یا بر رو ئی
ندارد طاقت وامکان دماغ وضع آسا یش
شکست چینی فغفور با شد وهم یکمو ئی
زبان‌در کام‌می گنجد نفس‌درسینه می سوزد
چسازم میرزا با دلبر شو خ سخنگو ئی

مذنب : ددی شاعر احوال، دبلخ په ماثر کښی ذکر شوی

اوبلخی‌الاصل دی . نوم‌ئی عبدالحق او تخلص‌ئی «مذنب» دی. ده دامامت شغل درلود اوکله‌کله‌پې‌شعرهم وایه دیوی تاریخی قطعی‌څخه‌چه ویلی‌پې‌ده څرګندپښی چه‌دی به ۱۲۷۷ کال کښی ژوندی و ذکر شوی قطعه په لاندی ډول ده :

هاتفی می گفت دی، باهمه سو زو گداز
ای فلك امروز ساز جامه سیاه و کبود
ماه نقابت شعار مهر مروت د ثار
محیط انوار حلم مظهر آ ثار جو د
چون دم آخر رسید تا ببرای جنا ن
کرد ازین خاکدان طایر روحش صعود
روی سیه شد حسود ازسر جرآت گذشت
مذنب مانیز گفت (مبدأ خیرات وجود)

میرزا احمد خان : اصلا دکابل‌و او همدغلته روزل شوی اولوی شوی‌دی دی‌په۱۱۹۵ کال کښی زېښېدلی او څه موده‌ئی په قندهار کښی تېره کړې ده دسردار مهردل‌خان مشرقی ندیم اوجلیس‌و دمشرقی دوفات تاریخ ئی په یوه رباعی کښی داسی بیان کړی‌دی :

احمدازهر کس تفحص می‌نمود سال‌فوت آن شه اقلیم جود
هاتفی بنهاد سر برپاش گفت منزل اوباد «جنات‌الخلود»
۱۳۷۱

احمدخان دغه مودی‌دپاره په کابل او قندهار کښی دامیر دوست محمدخان مستوفی‌و. نوموړی په ۱۲۸۰کال کښی‌مړشوی دی . دی یودیوان هم‌لری . په‌اشعارو کښی‌ئی تخلص «احمد» دی لاندی دوی رباعی دده دی :

رباعی

آنکه در قوس قزح شیوه ایما دارد
میتواند که کند زنده جهان جا دارد
احمدا شاخ تکبر بر تمکین ندهد
ظلمت روی مه و مهر که زیبا دارد

ولسه

ای شهسوا ر بلخ ویا شحنهٔ ا لنجف
در یگا نه ئی ونهان گشته درصدف
این آستان پاك‌تو جای ا جابت است
هر کس کند دعا رسدش تیر برهدف

میر زا محمد محسن دبیر : محمد محسن بن میرزا علیخان بن میرزا محمد نبی‌خان بن حاجی علیخا ن به ۱۳۲۷ هجری قمری کال په‌کابل کښی زېږېدلی‌دی. نوموړی‌لمړی په‌خصو صی مکتبونو کښې او بیادخپل‌پلار اوتره، میرزا فتح‌علیخان څخه علم تحصیل کړ . په‌شعر اوشاعری کښی ئی مفر ط ذوق در لود . دی لمړی په قندهار کښی دسردار کهندل‌خان د بار کزودسردار پاینده خان زوی، منشی و. کوم وخت چه دوست محمد خـان پرقندهار باندی تسلط وموند، دی ئی دلخانه‌سره هلته راؤ ست اوددبیر په حیثئی مقرر کړ. بیا ددوست محمدخان‌له‌وفات‌څخه وروسته دی داعلیحضرث امیر شیرعلی‌خان دبیټر او منشی مقرر شو اوله څه مودی وروسته دامیر شیرعلی خان د خـوا دروس به سفارت اودترکستان په حکومت و درېد څو په ۱۲۸۲ کال کښی مړشو . میرزا محمدمحسن که څه‌هم درسمی چارو په کتلو ډېر مصروف و خودخپل شعری ذوق په اقتضایې شعر هم وایه اویو دیوان ئی‌هم جوړ کړی‌و چه دغزنی‌دسید آباد په محار به کښی دمنځه ولاړ . لکه چه‌زوی ئی په دغه مورد کښی وائی :

اگر ازشۀما زروتـاج رفت کتابی زما هم به تاراج رفت

محسن یومقتدرشاعرو اودخبرو په‌فنونو اودنظم په انواعو کښی یې بشپړمهارت درلود لاندی څو بیته دده داوه لس بیتیزی مر ثیی څخه چه دامیردوست محمدخان په‌مړینه کښی یې‌ویلی ده ، اقتباس شوی دی :

مهری به‌برج سلطنت ای دوستان گرفت
کز حسرت فرو غ جما لش جهان گرفت
شد خسرو زدهر که دایـم به مـاتمش
پیرو جـوان فرقۀ افغـان فغـان گرفت
یعنی امـیر دو ست محمد کـه تیـغ او
خورشید سان کران جهان‌تا کران گرفت
محسن سوال کرد ز پـیر خـرد که آه
تار یخ فوت این شه غازی چسان گرفت
حوری سر ازجنان بدر آورد در جواب
گـفت ازامیر جاهد غاز ی توان گـرفت

دجنان سرچه د(۳) عددی که د۱۲۸۲ څخه‌چه (امیرجاهد غازی) دی واپستل‌شی، دجمل په‌حساب، ۱۲۷۹چه دوفات تاریخ دی، پاته کېږی . ( محمدمحسن دبیردی و کـتل شی )

واسع : میرزا عبدالواسع طبیب بن لعل محمد خان عاجز بن پیرمحمد په ۱۲۰۸ هجری قمری کال دکـابل په‌بنار کښی زېږېدلی دی ده دخپل پلار څخه ابتدا ئی زده کړه اخیستی او دطبابت سره‌ئی‌مفرطه علاقه درلوده اوپه‌دی‌فن کښی‌یې‌وړمهارت حاصل کړ دی لکه خپل پلاردپاچهانو په‌دربار کښی‌یې دطبیب په‌حیث ژوند کاوه اودژوند تر پایه پوری د سلطنتی کـورنـی پـه تـدا وی اوعـلاج بوخت و . نو مـوږی لـوی شـاعـر او عـا لیـمقـام سخـنو ر هـم و . یـو دیـوا ن هـم لـر ی چه‌د کلام‌پرانوعوشامل‌دی دا دیوان نه‌زره بیته لرې دغسی یې یوه رساله دطب‌په علم کښی‌هم‌تالیف کړې‌ده .دیوان ئی‌پرغزل رباعی ، مخمس ، ترجیع بند .ترکیب‌بند،مثنوی ، قصیده،قطعه اونورو احتواکړ یده یوبل ترجیع بندئی د سعدی به‌ا ستقبال جوړ کړی‌دی دترجیع بیت‌ئی‌دادی :

بنشینم وجیب‌جان زنم چاك برخیزم و بر سرافگنم خاك

واسع په‌خپل ۷۵ کـلی عمرپه ۱۲۸۳ کال کښی وفات و موند اودمر نجان دغنډی‌ په‌پای کښی شخ‌شو . لاندې غزل دده‌دی :

غز ل

تا د ل من آ شنا با طرۀ جانا نه نشد
چاك‌شد،صدپاره‌شد،هر پاره‌چندین شانه‌شد
اشکم اندر دیدۀ حسرت به‌یاد آن دولب
لعل شد یاقوت احمر شد در یکدا نه شد
دل بغیر از دامن صحرا نمی گیر د قرار
چون کنم‌ای‌عاقلان مجنون‌من دیوانه شد
هر کجا رنگ تجلی ریخت سامانی نمود
کعبه شدبیت الصنم شد دیرشدبتخانه شد
تاببزم‌آن‌سرو گل رخسار آمد دل زشوق
شمع شد قمری شد و بلبل شد و بروانه‌شد
بامن آن‌بیگا نه خوواسع نگردید آشنا
دشمن جان من آخرازخود وبیگانه شد .

( واسع طبیب‌دی و کتل شی )

بوسعیدکابلی :خواجه میر سعد الدین بن خواجه میر سعد په(۱۱۹۸) هجری قمری کال دکابـل دچادهی به تنگی‌میدان کښی‌زېږېدلی‌دی. ده‌خپل ابتدائی تحصیلا ت هلته تکمیل کړل اودځه‌مودی‌دپاره‌ئی په‌عاشقانوعارفانو کښی استوګنه غوره کړه او دهغی ناحیی په یو مسجد کښی په‌امامت‌مصروف‌ودی‌وروسته هندته‌ولاړاوله‌څه‌مودی‌وروسته کابـل‌ته‌را غبرك شو او دطریقت سالك‌شواودارشاد پرمسند کښناست.بوسعیددخپل‌ژوند په۸۵ کلنی‌یه ۱۲۷٤هجری‌قمری کال کښی‌مړشواودخوا جه‌صفادغره په‌لمن کښی ښخ شو . بوسعید د خپلو غزلیاتو په‌مقاطعو کښی کله بوسعد کله‌سعدالدین او بیااغلب‌وختونه بوسعید ،تخلص کاوه دی‌یوشیوا بیان شا عرو . دبوسعید دیوان، چه دقلمی‌یه شکل‌پاته‌دی‌او یوه نسخه‌ئی‌دمرحوم‌هاشم‌شائق‌افندی په کتابخانه کښی‌او بله نسخه‌ئی دمطبوعاتو‌په کـتابخانه‌نه کښی‌شته‌ده‌چه‌لږوډېر پنځه‌زره بیته‌لری، پرغزلیاتو ، رباعیاتو ، مخمساتو مشتمل دی . لاندی ر باعی اوغزل دده دکلام نمونه‌ده :

رباعی

ای‌چشم توغارتگردین و دل‌من
خال تو نشسته در کمین دل‌من
از گلشن‌روی تو بیرن شد خط سبز
جزمهر نرو ید ز زمین دل من

غزل

ساقی‌بیار باده که کارم ز دست رفت
درده قدح که عیش بهارم زدست رفت
وا قف شوی اگر زدلم جای رحمتست
دستم بده که دا من یارم ز دست رفت
از عقل‌وعلم ود ین دل ماخبر میر س
بیچار ه‌ام کنون که چهارم زدست رفت
ازاشك خون چوخط بنگارم بهر زمین
برجاست زانکه با ی نگارم زدست رفت
درانتظار روی‌تو خشك است چشم من
آن دولتی که بد بکنارم ز دست رفت
بودم بصید خو یش که نا گاه شیر عشق
بنمو د صو لتی که شکارم ز دست‌رفت
گر نا له بشنوی زمن ایندم عجب‌مدار
ای بو سعید صبرو قرارم زد ست رفت

(بوسعید کابلی‌دی وکتل شی)

عزیزی : میر سیف الدین بن میرمقام‌الدین بن میرامام‌الدین بن‌شیخ‌سعدالدین‌انصاری متخلص به‌عزیزی دی دی، دافغانستان ددیارسمی‌پیرې‌دوروستیوشاعرانوڅخه ګڼل کیږی.عزیزی‌نظر هغه‌مفرط شوق ته چه‌به‌شعراود پخوانوشا عرا نود دیو انونوپه مطا لعه کښې بې‌درلود دپخوانیواومعاصروشاعرانویوشمشیرزیات اشعارئی دجنګ به‌شکل‌به ۱۲۸۲ کا ل کښې راغو ند کړ ل او دغه شان‌ئی د حضرت بیدل غز لیات اور با عیات به ۱۲۸۳ کا ل کښې تدو ین کړ ل عزیزی څه مو ده په مزار او څه موده په پنجشیر ګښې تیر ه ګړ یده او همدا وجه ده چه زیاتره پنجشیری بلل شوی دی . لاندی غزل‌ئی دکلیم‌همدانی به استقبا ل انشاء کړ ې دی :

غز ل

ای‌شوخ میار ای قد سرو روان را
تانشکنی از غم‌دل صدپیروجوان‌را
تاخال سیه برخ گلر نك نها دی
آتش زده‌ای‌سوخته ای‌خلق‌جهان را
ازخنجرخونریز تودلها همه چاکند
از بهر خدا چست مکش تیرو کمان را
از قوت روان‌لعل تو یا قوت روا ن است
یك بوسه ببخشای بده قوت روان را
یکبار سوی بنده عزیزی نظری کن
بایك نگهت باخته ملك‌دو جهان‌را

حنیفی‌پنجشیری : دپنجشیر ددیارلسمی‌پیرې‌دشاعرانواودعزیزی د معاصر ینو څخه دی نو موږی دښه ذوق‌او قر یحی خاوندو ښه اوپاخه اشعار یې‌ویلی دی لاندی‌غزل دده‌دی :

غز ل

زعشقت آتشی اندر دل دیوانهٔ دارم
نجوم آباد سودا بیحلاو ت خانهٔ دارم
جنون تازی به آغوش خیالم گرم ناز آمد
چو شبنم آب گشتم یکنفس پیما نهٔ دارم
فشاندم آستین ناز ازمشت غبـار خو یش
زبرق شمع رویش سوزش پروانـهٔ دارم
ازان نـامم بشهرت میرسد درعالم امکان
حنیفی همچو عنقـایم بخود افسـانهٔ دارم

عزیزی پنجشیری: نوم‌ئی محمدعزیز اوپه (ملا) سره مشهور دی په شعر کښې پخیل نامه «عزیز» تخلص لـری . دی هـم دعزیزی دمعاصرینو څخه دی اودهغه یو شمیر اشعار یې پخیل جونګ کښې قید کړی دی . لاندی غزل ئی دعرفی او شوکت په پیروی ویلې دی :

غزل

ازسرکوی تو بـا دیدهٔ گر یان رفتم
دل صدپاره و نومید و پریشـان رفتم
عاقبت‌رفتم ورنـګ ازگل الفت بردم
گرچه بارنگ خزان ودل بریان‌رفتم
سوخت‌در گرم روی آبله‌ام در کف پا
بسکه‌وحشت زده‌وبی سروسامان رفتم
چون‌سکندرمن‌ازین‌طالع‌شوریده عزیز
بی نصیب‌ازلب این چشمهٔ حیوان رفتم

فقیری پنجشیری : دی هم د پنجشیر و. نوموړی لحینی اشعارلری چه په جونګونو اوخطی بیاضونو کښې لاس ته راځی . فقیری د عزیزی معاصر دی اودهغه ابیات ئی پخیل جونګ کښې داخل کړی‌دی لاندی‌خو بیتونه‌ئی دظهوری‌ترشیزی په‌پیروی‌ویلی‌دی:

غزل

آمد بچشم ورفت و ادا را بهـا نه ساخت
مارا فزود در دو دوا را بهـانـه ساخت
سر مست میـگـذ شت زراه غـلط نما
چشمش بما فتادو وفـا را بهانه ساخت

شب دیده ظلمت شب زلف ر سای او
معلوم گشت نور ذ کارا بهانه ساخت
خور شید چون بدید فقیری جمال او
برتن درید جامه قبارا بهانه ساخت

علی پرست کابلی : یوسیاحت خوښوونکی سړی وچه دایران

په اکثرو ښارونو کښې يې سیاحت کړی دی . په شیراز کښې يې درضاقلی هدایت سره وکتل او خبری اتری یی سره وکړی. نوعلی پرست ددیارلسمی پیړۍ ددوهمې نیمائی د شاعرانو څخه شمېرل کېږی رضاقلی هدایت دمجمع الفصحاء خاوندلاندی بیت دده په نامه قید کړی دی :

افتادن وبر خاستن باده پرستان
در مذهب رندان خرابات نمازاست

دری : شهزاده عبدالرزاق د درانی زمانشاه زوی متخلص

په «دری» دی داشاهزاده د شعری لوړی قریحی او دسر شار ذوق خاوندو اوښه شعرونه ئی ویل. لاندی غزل چه د حضرت بیدل اودخیل اکا درانی شاه شجاع په تقلید ئی ویلی دی دده دشعری طبعې څخه نمایندگی کوی :

غزل

بتی دارم بر وچون مه ولی چشمان مستستش
دوافعی حلقه ها بر بسته وبر گل نشستستش
کمان ابرو پیوسته کشیده گوش تاگوشش
مژه خنجر بدستستش نگه ناوک به شستستش
طمع زان ترك تاتاری مدارید از وفاداری
که هرعهدیکه بستستش بیک ناگه شکستستش
چه می پرسی زمن کزدست اوحال دلت چون است
ازو می پرس کزخونم خضابی رنگ دستستش
بلاها کرده بالایش فسونها چشم شهلا یش
زهی شمشا د رعنایش که سرو ناز پستستش
جفا بر بیدلان ا کنون زحد بیرون کند اما
همین طرزی که هستستش هم از روز الستستش
چه گویم من دری حاصل ازان پیمان گسل بگسل
که بایاری نه پیوستش که آخردل نخستستش

وصفی کابلی : نوم ئی علی نقی او تخلص ئی وصفی دی .

وصفی دتیمورشاه دزمانی څخه دشاه شجاع تردوری پورې ژوندی و اودشاه شجاع په مدح کښې ئی قصیدی ویلی دی د دیار لسمی پیړۍ دشاعرانو څخه ګڼل کېږی چه دیوه دیوان خاوند هم دی . دده دیوان چه دیوی سلسلی مرادفو غزلیاتو ، قصائدو، رباعیاتو، قطعاتو او نورودی څخه مرکب اودخطی په شکل پاته دی، چاپ ته نه دی رسیدلی . یوه نسخه ئی دکابل په موزه کښې شته او بله نسخه ئی دلحینو وګړو سره پیدا کېدای شی لاندی غزل ئی دکابل دمجلی څخه اقتباس شوی دی :

غزل

خجل شده است زچشمت به بوستان نرگس
به پیش مانده سرو گشته ناتوان نرگس
زچشم مست تو یك نشهٔ جگر دیده
ستاده در چمن دهر سر گران نرگس
زشرم چشم تو ازباغ گر نشد بیرون
شده زبهر چه گلچین بهر دکان نرگس
چو دید ترك دو چشم و سنان مژگانت
ازان نهاده دل خویش بر سنان نرگس
برای آنکه نثار قدوم او سازد
گرفته است بکف طشت زر ازان نرگس
مگر به پای تو مالید چشم خود کز قدر
گرفته جای بدستار گلرخان نرگس
چو دید چشم سیاه نگارت ای وصفی
بسپر وربد ازان روز باغبان نرگس
( وصفی دی و کتل شی )

مایل کابلی : نوم ئی میرزاخان اوتخلص ئی «مایل» دی

دی دکابل دښار ددیار لسمی پیړۍ د شاعرانو څخه دی . نوموړی دشعر طبع درلوده او یوشمېر ډېرغزلیات ئی ویلی دی اود صفی معاصر و چه د هغه سره يې مشاعری کړی دی . لاندی غزل ئی دهغو غزلیاتو څخه دی چه دوصفی سره يې دمشاعری په ترڅ کښې ویلی دی دوصفی مطلع په لاندی ډول ده :

مطلع

نه کسی زدردم آگه که بمن طبیب جوید
نه درین دیار شخصی که دل غریب جوید

د مایل غزل

صنمی که ازغم او دل من نصیب جوید
ستم است اینکه دایم طرف رقیب جوید
بلب است جان زارم چه بود که دردمندی
رودو پی علاجم خبر از طبیب جوید،
همه حیرتم که یارب زچه روبشهر خوبان
نه کسی زدرد پر سد نه دل غریب جوید
نه درین دیار یاری که کند به یار یاری
نه درین چمن گلی کو دل عندلیب جوید
سر رشته بگسلا ند همگی زاهل دنیا
خنك آنکه ره چومایل بسوی حبیب جوید

عمر کابلی : حاجی عمر دسدوزوددوری دشاعرانو څخه‌وچه دشاه شجاع درانی له‌دوری سره‌یې‌هم پیوستون کړی‌و. دی د میرهوتك افغان معاصرواودهغه‌سره‌یې‌دوستی‌اورابطه‌هم درلوده که څه هم‌دی امی او بېسواده وخوکله چه‌دده دخیال بازآلو تنه کوله ، نوددده فکر څخه‌ناز که اوبکره‌معانی اولوړ اورنګین مضامین ، میدان ته راوتل . افغان‌دده‌څوغزل تخمیس کړیدی‌او ده هم دافغان دډېرو غز لیاتو پیروی کړېده .

لاندی غزل ئی دکابل دمجلی څخه اقتباس شوی‌دی :

غزل

منم ازچشم سیاهی به نگاهی قانع
بنگاهی شده از چشم سیاهی قانع
صبح‌تاشام به‌نظارهٔ مهری محظوظ
شام تاصبح به اندیشهٔ ماهی قانع
به پیامیکه‌دهد دست‌بسالی خورسند
به سلامیکه کند یار بماهی قانع
به تمنای رخی بر سر کوهی ساکن
بتماشای قدی بر سر راهی قانع
نیست‌قانع‌دل‌من‌بارخش‌ازسبزخطان
هست‌تا گل نتوان شد بگیاهی‌قانع
میل نظارهٔ ماه فلکم نیست عمر
که بماهی‌شدم ازطرف کلاهی‌قانع

مخفی : نوم ئی نور الدین ، تخلص یې مخفی او مشهور په قاری‌دی ، مخفی به‌قندز کښی زېږېدلی اوخپل ابتدائی تحصیلات ئی‌هم هلته‌بشپړ کړی دی اووروسته دماوراء النهر وخواته‌تللی، بخارا او فرغانی‌ته‌یې‌سیاحت کړی‌دی . نوموړی دفرغانی والی ، امیر عمر خان ، دربار ته ورسېد امیر عمرخان ده ته په‌ښه سترګه کتل اوپخپل‌مجلس کښی ئی د مصاحب اوشاعر په‌حیث قبول کړ . مخفی دنوموړی امیرسره مشاعری کړی‌دی اوپاخه او په زړه پوری اشعار ئی ویلی دی . لاندی غزل دده دمشاعرې‌دغزلیاتو څخه‌دی .

غزل

به‌ابروی که شد یارب اشارت پرور انگشتم
که همچون ماه نوگردید ناخن درهرانگشتم
تنك سر مایگی با ر تحمل بر نمیدا رد
مگر چون نی زبند خود نهد انگشتر انگشتم
بتحریك سرزلف تو هر جا آشنا گردد
کند از عقده کار نافهٔ مشك‌تر ا نگشتم
گر ازامداد طالع دامن و صلت بد ست آید
زهر ناخن دماند چشم حسرت پر ور انگشتم
بگلزاریکه لعل یار گردد مایل هستی
چو نرگس می نماید تحفه جام می هرانگشتم
ندارد هرزه باخود سنگ صندل سای ناخن‌را
که‌باشد در حساب دهر بادرد سر ا نگشتم
بود مخفی به‌ابنای زمان از عا جزی حالم
بدست مادر گیتی و گرنه چون تر نگشتم

ابن قاضی : نوم ئی میرحسین اود قاضی فتح‌الله‌خان زوی او مشهور په‌قاضی میرحسین دی چه «ابن‌قاضی» تخلص لری. دی دافغانستان ددیارلسمی پېړی دشاعرانو څخه ګڼل شوی دی . کوم اشعار ئی چه‌ویلی‌دی اکثراً حمداونعت‌دی‌چه‌د اهل بیت او خلفای راشدینودمدحې‌په‌باره کښی‌دی .دی‌بودیوان‌هم‌لری چه‌په غزل ، قصیده ، رباعی ، قطعه،مسدس ، ترجیع ، ترکیب‌بند نورو شامل دی. دادیوان په‌لاهور کښې چاپ‌ته‌هم رسېدلی‌دی. نوموړی دشیخ سعدی کر یما تخمیس کړې ده لاندی بیتو نه دده دطبعې نمونه‌ده :

مهر با ن بند گانی ای خدا — بندگان‌را مهربانی ای خدا
گرچه‌ازتو نیست‌خالی‌یك‌مکان — د ر حقیقت لامکانی ای خدا
روی امید دل عالم به تست — ملجأ خلق جهانی ای خدا
کی‌عیان گویم‌ترا رازم که‌خود — وا قف راز نهانی ای خدا
غم‌نه ازرزق‌است‌قاضی‌را که‌تو — رازق وروزی‌رسانی ای‌خدا

عبدالصمد بامیزائی : دی دعبدالنبی‌خان زوی اود احمدشاه درانی وزیر شاه ولیخان دلمسیانو او دافغانستان ددیار لسمی پېړی دشاعرانوڅخه‌دی. نوموړی که‌څه‌هم‌دسدوزوددربارې‌سره رابطه‌درلوده‌مګر په‌سیاسی‌اوحکومتی چارو کښی یې څه علاقه نه درلوده بلکه د زمینداری په‌چارو کښی‌بوخت‌و یودیوان‌ئی په‌یادګار پری‌ایښی‌دی‌چه‌هرازخبری پکښې‌پیدا کېږی ؛ غزلیات اومثنوی ګانی ئی اکثراً صوفیانه دی . نوموړی‌خپل دیوان په۱۲۸۳هجری قمری کال کښې ترتیب کړ . ده دخپل ژوند په پای کښې‌په‌خواجه‌مسافر کښی استو ګنه‌اختیار کړه.لاندی‌غزل دده‌دی :

غزل

ایدل چکنم که نیست آرام مرا
بی نگهت روی‌آن گل‌اندام مرا
عاشق شده ام نیست گناهم دیگر
از بهر چه میکشد د لا رام مرا
میخوا ست مرا بخلق سازد اظهار
خود باده بخورد و کرد بدنام مرا

باهر که‌ز مهر داد صد ساغر می
خا لی چه بکف نهاد یکجا م مرا
از بخت بدای صمد شکایت چه کنی
قسمت که چنین نهاد ا نجام مـرا

عندلیب : محمدامین دغلام‌محمدخان طرزی زوی دافغانستان دډیار لسمی پیړۍ دمقتدردشاعرانو څخه‌وچه بعضوئی د زیږیدنی تاریـخ ۱۲٦۸ کال لیکلی دی .مگر دهغی قطعی له مخی چه پلار ئی دده‌دزیږیدنی په‌باره کښی‌ویلی‌دد، څرگندیږی چه‌دی په۱۲۷۲کال کښې زیږیدلی‌دی.محمدامین‌په‌شعر کښی «عندلیب» تخلص لری‌اوهم‌ئی‌ځینی وختونه‌دخیلو غزلیاتو په مقاطعو کښی، خیل نوم راوړی دی . ده ابتدائی زده کړه دخیل پلار څخه کړې ده . عندلیب لکه خپل‌پلار،طرزی ، دحضرت بیدل دسبك پیروی کړی‌ده اوبیدل ئی پرتولوشاعرانو پورته ګڼلی‌دی. ده که څه هم له۲۲ کالـه‌پورته عمر نه‌دی لیدلی،خودپوه‌دیوان‌خاوند دی چه‌له ۳ زره بیته متجاوز دی اودا دیوان په‌قطعه ، مخمس، رباعی، مثنوی، اوغزلیاتوشامل دی دده دوفات په تاریخ کښی هم اختلاف شته په دی معنی چه‌بعضی‌ئی ۱۲۸٦ بولی او ځینی نورئی له دغه کال‌وړاندی‌یاوروسته گڼی . بعضی وائی‌چه‌وفات ئی‌په۱۲۹٤ کښی واقع شوی‌دی. لاندی غزل د نوموړی دقلمی دیوان څخه چه دپوهنی وزارت په کـتابخانه کښی‌دی ، اقتباس شوی‌دی :

غزل

بال مژ گان دیده چون بهر تماشا بشکند
رنگ بر رخسار آن آ ئینه پیما بشکند
بیم محشر در دل ازبی عبرتی ها بشکند
شیشه‌ام ازسخت جانی فرق خارا بشکند
نرگس مستی که دیدم ازنگاه د لشکن
نشأ راچون موج می درچشم مینا بشکند
رو مگردان ازبیابان جنون‌چون گردباد
تاشود گـل برسرت خار یکه درپا بشکند
بر گل رویش‌چسان رخصت دهم نظاره‌را
کز نگا هش خار در چشم تما شا بشکند
ازبلندی های دست حسن آن دور نیست
در ج د ندانش اگر عقد ثریا بشکند
عندلیب‌ازهجر آن گـلـگون عذار گل‌بسر
خار صد گـلزار گـلبن در دل مابشکند

( «عندلیب» دپې وکـتل‌شی )

مقبل : اصلا دخلمو ، نوموړی د ماوراء النهر وخواته سفر وکړ اود امیر مظفرخان په‌زمانه کښی لوړو مرتبوته ورسید. ده په متداوله علومو کښی بشپړمهارت دراود اودادب په‌فن کښی دلوی لاس خاوندو،ښه‌اشعار ئی‌ویل دده اشعار په تذکرو کښی درج شوی‌دی ځکه‌چه‌مقبل دپاچا په‌سترګه منلی‌و نو دمعاصرینو محسود واقع شو اوډیروشاعرانوده دلوړی رتبی په نسبت‌خیل حسد څرګند اوه اودده درتبی‌آرزوییې کوله . مقبل په۱۲۸۷ کال ، په‌بخارا کښی مړ اوهمالتـه ښخ شـوی‌دی . لاندی غزل دده دی :

غزل

بخور می‌در گـلستان تا کشاید عارضت گل گل
بهم نالـیم ازشوق گـل ر و یت من و بلبل
رسوم میکشان آموزو عزت کن صرا حی را
دهد پیر مغان کـمتر بمـرد کـم تعا مـل مل
بهمت میتوان از قطره قلزم را عیان کردن
که گردد کار جزئی پیش مردان تو کل کل
رود تاغلغل کـوس تـوبـر افلا ك تا محـشر
سحر ا ند ازد آهم در صف کرو بیان غلغل
رماند همچوآهو مر د مان را نالهٔ « مقبل »
پری را می‌زند ازشیشهٔ مـی چار قـل قلقل

باقی: میان عبدالباقی مجددی چه « باقی » ئی تخلص وړ دافغانستان ددیارلسمی پیړۍ دمتصوفینو اودذوق‌د خاوندانوځخه دی . نوموړی‌زیاتره په عر فان اوتصوف کښی اشتغال درلود اوپه شعر اوادب کښی‌بې‌هم خپله ښکلی سلیقه ښودلې‌ده . دده متفرق اشعار اوآثار دکـتنی او مطالعی وړدی . دی‌په ۱۲۸۷ کال کښی مړشوی‌دی.لاندی بیتونه دده دیوه غزل څخه‌اقتباس شوی‌دی :

غز ل

عاشقانی که زخویشست دمادم رمشان
میشود زنده بسی مرده زفیض دمشان
مقصدو مطلب شان‌است رضاجوئی‌یار
نی جهان مطلب‌شان نی‌زجهنم غمشان
ازره صدق شدندجمله بیادش محصول
جبرئیل است درین بادیه نامحرم شان
سا حت سینهٔ شان پاك ز آلا یش غیر
جز خیال رخ دلبر نبو د محر م شان
عین جمعند ند ارند سوی تفر قه کا ر
نتواند که زند چرخ فلك بر هم شان
حشمت شا هی عا لم بگد ا ئی بخشند
سایل افتاده بدرهمچو گدا حـاتم شان

من طلبگار چنین طا یفه ام ای بـاقی
از کرم ساز خدا یاتو مرا همدم شان

جمالی خلمی : میر جمال‌الدین خلمی متخلص پـه جمالـی دافغانستان دشاعرانو څخه و دی دما وراءالنهر و خواته تللی اوهلته پې‌ژوند کړی‌دی. جمالی پخپله ځوانۍ کښی د خپل ورور سره دزده کړی دپاره بخاراته ولاړ او دفضیلت او معرفـت له اکتساب‌وروسته بیا کرمینې‌ته وخوځېداودهغه ځای د امیرانو سره محشور شو له څه مودی وروسته پې‌بیابخاراته سفر وکړ او دهغه‌ځایه دحصاروخواته ولاړاوپه ۱۲۹۰کال کښی هلته‌مړشو. جمالی ښه طبع درلوده لاندی رباعی اوځو بیتونه دده دی :

رباعی

درفرقت‌تواین‌دل حسرت‌انجام قانع‌نشودبه‌نامه وپیك وپیام
کی‌باشدوکی که‌بازباهم‌جوشیم تا شربت اتحادآید بقوام

☆ ☆ ☆

آنجا که‌نالهٔ دل عاشق سواره است
بربط چه‌نام‌دارد وبلبل چه کاره است
گررفتنش نمونهٔ عمر دو باره بـود
بـاز آمدن نشان حیات دو باره است
دور ازتو نـاله ام به اثر همعنان نشد
ای گـلبدن‌مگردل‌توسنگ خاره است

قوام‌الدین قوام : د خلمی میرجمال‌الدین ورور دی‌چه دخیل ورورغوندې‌فاضل اودذوق خـاوند مـګر شوخ طـبعه او هزل ویـونکی و . دتحفة‌الاحباب خاوند دهغه په بـاره کښی لیکی : «دی پوعلم غوښتونکی ځوان دی چه‌خوږ صحبت لری . خوش محاوره اولطیفه سنج دی . شعر خوښوونکی او شعرو یونکی دی . ابیات‌ئی نازك اولطیفه‌دی داستعداد د قابلیت خاونددی.» دتحفة‌الاحباب په قول دی دروس سره دجنګ په زمانه کښی، په ۱۸٦٦ میـلادی کـال کښی ووژل شو لانـدی څوبیتونـه دده دی :

فـرد

حیرت پرست شوخی آیـنه ام قـوام
تا مظهر تجلی عکس جمـال او ست

و لـه

تاخوانده ام ز حـاشیهٔ روی یـار خط
تکرار درس‌من همه دور تسلسل است

فرحت : دی‌هم یوتن د افغانستان ددیارلسمی پیړۍ دلویو شاعرانو څخه دی اصلی نوم ، دزېږیدنې تاریخ او دمړینې‌نېټه ئی لاس ته نه‌ده راغلې‌دده څخه یوقلمی دیوان په نظر راغلی دی چه لږو ډېر ۳۱۵۲ غزل لری او ټول (۱۵۸۰۰) بیـتـه کېږی . بعضی ئی هروی بولی مګر ډېرشهرت لری چه دکابل دی فرحت که څه هم مقتدر اولوی شـاعرو مګر بی د غزل بـلدراز نظم دده څخه لیدل شوی نه دی لکه چه دیوا ن ئـی سرتړپایه غزل دی او په سلو کښی ۹۹ پنځه بیتیز غزلونه لری فرحت په اکـثرو غزلونو کښی خپل تخلص ذ کر کړی نه دی اوډېر غزلونه ئی بی مقطع‌دی . لاندی غزل ئی دهغو غزلونو څخه چه دده له دیوانه څخه اقتباس‌شوی دی انتخاب شوی‌دی:

غـزل

زلف مشکین آن پری رورا بدوش افتاده است
دام صید طـایر دل گـلفر و ش افتـا ده است
بسکه شـد چشم تمیـز اهـل دو لت پـر غبـا ر
کـار بینشهـای‌چشم‌اکـنون بگوش افتاده است
کشتی می را چـرا سـاقـی نمـی آرد بکـف
موج رنـگ گل درین گـلشن بجوش افتاده‌است
گر نه ازحـال پریشانم نمـی گـوید بـه او
حلقهٔ گـیسو چرا فرحت بگوش افتاده است

ولی طواف کـابلی : محمد ولی‌بن ملاعلی‌محمد په۱۱٦۸ هجری قمری کال‌د کـابل په‌ښار کښې‌زېږېدلی‌دی . نوموړی که څه‌هم امی اوبهسواد و خوبیاهم د دیار لسمی پیړۍ دمعروفـو شاعرانو څخه شمېرل کېږی . دولی پلار مځکوال او بز ګرو اوکوم وخت چه ولی کوچنی‌و، مړشو وروڼه ئی هم‌یودبیت‌الله وخواته ولاړ اوبل‌ئی د هندوستان سیاحت ته وخوځېد اودواړه ئی په سفر کښی مړه شول ځکه نوولی دعلم او زده کړی څخه محروم پاته‌شومګرځرنـګه‌چه‌دی فطرتاً دشعری قریحی خاوند و، نوښه اوپاخه اشعارئی ویل اوپه‌بدیهه ویلو کښی‌یې‌لوی‌لاس درلود اوډېر اشعارئی پەمختلفو مواردو کښی مر تجلا ویلی‌دی لاندی رباعی ئی یوه دوست ته دمنی دوړاندی کولو په موقع کښی ویلې ده :

رباعی

چشم میگونت بصد نیرنـگ وافسون وفریب
برده ازجـانم قرار و صبرو ارام و شـکیب
بر امید آ نکه بر دستت ر سد یا بر مشـام
لخت‌دل‌صدغوطه درخون‌خورد تا گردبدسیب

ولی طواف دیوه دیوان خاوند دی چه غزل، قطعه ، رباعی ، مثنوی اودخبرو نوراقسام لری ذکرشوی دیوان، دده په ژوند کښی دده دیودوست له‌خواتدوین شوی‌دی مګر دبده‌مرغه کله په ۱۲۸۸ کال د خپلی مسکو نی خونی دنېږدو په‌اثر مجروح اوشه‌موده وروسته مړشو، دیوان‌ئی هم‌دمنځه ولاړ اوورکشو . بل‌وار ملا عبدالستار مهجور ئی یوه برخه ټوله کـړه چه دا مجموعه هم ضایعه شوه اوس دولی طواف څخه بی دغوغزلونه چه دذوق د خاوندانو سره شته بل شی پاته نه‌دی. لاندی غزل دده دی :

غـز ل

کند رم همچو آهو بـا وجود آر میدنها
فسون گر کی ملایم گرددازافسون دمیدنها
تواضع گر کندشوخی ز تعظیمش مشوغافل
خدا حافظ ازان تیـغ دودم وقت خمید نها
زند صدخنده برچاك گریبانم ز بیدا دی
کشد کـارش اگرروزی به پیراهن دریدنها
درنظمم بود بسیار بهتر از در مکنون
حریفی زبر کی باید به این مضمون رسیدنها
سرم چون صید ببریدو بخاك رهگذار افگند
عجایب لذ تی دارد ولی در خون تپیدنها

تایب : اصلا د کـابل ودی یوځل هندته تللی اوهلته میشت او کهځه هم علمی لوړه پایه نلری مگر دشعری قریحی خاوند و اوښه اشعار دده له طبعې څخه راوتلی دی .

مظفر حسین د «روز روشن» خاوند چه خپله تذکره ئـی په ۱۲۹۵ کال کښی تالیف کړیده لاندی غزل د تایب په نامه قید کړی دی :

غز ل

دودسته گر نکنم خاك غم بسرچکنم
ز دست عشق توای نازنین بسر چکنم
ز ناله ام که دل سنگ در فغا ن آیـد
نکرد دردل آن سنـگدل اثر چکنم
خراب خانهٔ من کرد عشق خانه خراب
مرا به دیر و حرم ساخت دربدر چکنم
ز نوش غم جگرم پاره پاره گشت ایدل
علاج دو ری آن پـارهٔ جـگر چکنم
نشد که نخل قدش دربر آورم تایب
نهال بـاغ امیـدم نـداد بر چکنم

سر کـار : نوم ئی شهنواز ، د سردار سلطان احمد خان زوی او تخلص ئی «سر کـار» دی سردار شهنواز نبه شاعر اوددیارلسمی پیړۍ به اواخرو کښی پیژوندکاوه. صفادغه غزل چه په مقطع کښی بې د «امیر» تخلص ذکر شویدی دده په نـامه قید کـړی دی . دا هر گنده شوی نه ده چه شهنواز دوه تخلصه درلودل اویا داچه «امیر» بل څوك و ؟

غـز ل

سرزلف بتـان دام بلا بوداست دانستم
بلی برروی هر گـنج اژدها بودست دانستم
عجب دل برده ازمن دلربای شو خ طراری
شعار دلبران جو رو جفا بودست دانستم
مرادیوانه کردست آن سر زلف پریشانش
گـنه از نگهت باد صـبا بودست دانستم
همیشه کـار عاشق صبر وطاقت بوددرهجران
ولی معشوقه دایم بیو فا بود ست دانستم
نکردی گر گذر بر کشتهٔ زار «امیر» امشب
ترا ازخون من پادر حنا بود ست دانستم

سـالم : نوم ئی توره خواجه او تخلص ئی « سالـم » دی . دی اصلا دمرزا شریف واوهمالته روزل شوی اولوی شوی دی. سالم دتصوف په سلك کښی منسلك و اوبه خطاطی ، پـه تـېره په نستعلیق کښی بې ښه مهارت درلود. ده کله کله شعرهم وایه . دماثر بلخ په قول، دی به ۱۲۹۲ کال کښی، دقندهـار د لاری څخه حج ته وخوځېد مگر به سیالـکوټ کښی، چـه دلاهـور دمضافاتو څخه دی، مړاوهمالته ښخ شو لاندی غزل دده دی :

غـزل

عزم میدان کرد باصد عشوه آن چابك سوار
کیست تا اکـنون نـگه دارد عنـان اختیار
شد خرد آشفته جـان دیـوانـه از بهر خـدا
اینچنین بیرو ن میـا از بزم می آشفتـه وار
رنگ رخسار توای گل سوزش دل تیز کرد
آتش لعل سمندت زد بجا نـم صـد شـرا ر
شکر کن سالم که آن مه روی درمیدان نهاد
تـابـراه اورسد نـو میـد جـان خـاکسـار

میرواعظ کـابلی : دافغانستان ددیارلسمې پیړۍ دعرفاؤاو متصوفینو څخه دی. دی دشاه شجاع تر دوهم حـکومته پوری هم ژوندی و. نوموړی دشعری ذوق او قریحی خـاوند و. دی یودیوان هم لری چه زیا تره اشعار ئی ، تصو فی او عرفانـی دی سربېره پردیوان ، نور کـتابونه اورسالی بې هم دتصوف او دینی علومو په باره کښی لیکلی دی چه متاسفـانه اکـثرئـی دخارجی اوداخلی جنگ جگړو په نسبت دمنځه تللی دی. لاندی غزل، دواعظ ددیوان دهغی نسخی څخه چه د لیکو نکی سره موجوده ده اقتباس شوی دی :

غـز ل

بهر دل بردنم ای آفت جـان می آئی
چنگ و بربط زده ورقص کـنان می آئی
باسپاه خط و تسخیر جهـان خوبی
چشم بددور که چون شاه جهان می آئی
ابروان قوس قزح چشم مژه دشمن جان
خیر بـاشد که بدین تیرو کمان می آئی
سرومن کبك خرامان من انصاف بده
که چراجان ندهم بین که چسان می آئی

لب من خشك وجگر تشنه وشبها بی خواب
بعد یکسال چو عید ر مضان می آئی
جان واعظ به لبش آمده است زو دبیا
چه به تمکین خود ای سروروان می آئی

مسکین : د دیارلسمی پیری د مجذوب الحالانو څخه و .

مسکین اصلا هزاره دی اوخه موده د کابل په دهمزنگ ، دتپل ایستلو په کار کښی بوخت و،او په دهمزنگی یې شهرت وموند . ده ته د جذب حالت ورپیښ شو ، دپای منار و خواته ولاړ او هلته دمیر زیور الدین (مشهور به حاجی صاحب پای منار ) دمریدانو او اخلاص کیشانو په ډله کښی داخل شو د هغه وروسته ئی طبع جاری شوه اوزیات اشعار ئی وویل . مسکین یو لوی دیوان لری چه دمینی اوعرفان دجذبو څخه ډك دی، دی بخیله یوه مطلع کښی میرزیورالدین ته راجع ، داسی وائی :

چومسکینی زسر مستی اگر خواهی خدابینی
برو کین باده در میخانهٔ زیور شود پیدا

داغزل هم دده دی :

غزل

خور دم زدست ترك فر نگیکه واخ واخ
در دل نهفته تیر خدنگیکه واخ واخ
رفتم به بحر عشق که آرم دری بکف
گشتم اسیر کام نهنگیکه واخ واخ
با فوج عشوه کشور ز هدم به باد داد
عالم خراب عر بده جنگیکه واخ واخ
یاران فتاده است سرو کارم چسان شود
با پر جفای قافیه تنگیکه که واخ واخ
مسکین بگو که کرد ترا بیگنه شهید
پیمانه نوش مست دو رنگیکه واخ واخ

الفت کابلی : نوم ئی میر مجتبی دی . دی دکابلی میر مرتضی زوی او دمشهور میرواعظ دلمسیانو څخه دی . دادلوړی قریحی خاوند شاعر په ۱۲۲٤ هجری قمری کال په کابل کښی زېږېدلی اودخیل پلار او دنورو اساتذه وڅخه ئی دعلم تحصیل وکړ اوپه شعر اوشاعری کښی د مهارت اولیاقت خاوند شو . الفت یو بشپړ دیوان لری چه دخبرو دانواعو او اقسامو څخه ډك دی ددغه دیوان یوه قلمی نسخه د سردار عزیزالله خان (قتیل) سره موجوده وه . د الفت نور پراگنده اثارهم د ذوق دخاوندانو سره شته دی .

الفت ولی طواف ته یوخاص تمایل لری اود هغه ځینی غزلونه ئی تخمیس کړی دی دالفت غزلیات زیاتره د حضرت بیدل په سبك اوشیوه ویل شوی دی .الفت دبیدل دکلیاتو د تاریخ ماده په یوه بیت کښی ، دهغی قصیدی څخه چه په دغه باره کښی یې ویلې ده ، داسی مو ندلی ده :

الفت زبهر مادهٔ تاریخ او بگو
گلهای جان دمیده ازین گلشن خیال
۱۲۹۲

دالفت دوفات تاریخ دځینو له خوا ۱۲۹۸ کال اودځینو نورو له خوا ۱۳۰۰ کال لیکل شوی دی. لاندی غزل ئی دنمونی په توگه دلته ثبت شو :

غزل

نمیدانم تمنا برور شوقم چه آغوشم
که بیتابی زندهمچون نفس موج از بردوشم
بصورت گرچه همچون بلبل تصویر خاموشم
قیامت کرده گل ازپیرهن من ناله در گوشم
زابنای زمان از بسکه دیدم سخت روئی ها
خروش استخوان دارد دم آبی که مینوشم
به زیر بار رسم خلق افتادم چو حمالان
گهی سجاده و گاهی سبوی باده بردوشم
چودف امروز دردست توام خواهی نوازش کن
وگر خواهی قفایم زن غلام حلقه در گوشم
به پیری هم نشد دفع خمار غفلتم الفت
فنامشکل که بیرون آورد این پنبه از گوشم

مصرع : نوم ئی داملا عبدالله او دصوفی مراد محمدزوی دی، چه په ابتدا کښی یې «سفیر» تخلص کاوه . نوموړی دبدخشان ددیارلسمی پیړی داواخرو له شاعرانو څخه و چه په (راغ فرشته) کښی یې استوگنه درلوده . دی د زده کړی دپاره بخارا ته لاړ اوهلته ئی مروج علوم زده کړل او بیرته خپل وطن ته راغبرگ شو اودبدخشان دیاوان په مدرسه کښی دژوند تر پایه پوری په تدریس بوخت شو اوخپل دیوان ئی هم هلته تدوین کړ.دزېږېدنی اودمړینی تاریخ ئی نه دی معلوم . مگر څرنگه چه خپل دیوان ئی په ۱۲۹۸ کال کښی تدوین کړیدی، نوځرگند ښکاری چه د دیارلسمی پیړی تروروستیو کلونو پوری ژوندی و . دده دیوان پرمختلفو ویناؤ شامل دی اویوشمیر زیات تاریخی قطعات هم لری ددی څخه دا بریښی چه مصرع په دی فن کښی ښه مهارت درلود لاندی غزل ئی دده د کلام دنمونی په توگه ولیکل شو :

غزل

نمیدانم که گر دید از و صالش کامیاب امشب
که نی دردل قرارم ماندونی دردیده خواب امشب
اگر این است نیر نگ جنون ساز محر ومی
توان کردن زمضمون جدائی یك کتاب امشب

بیا از لطف بر خوان نامهٔ داغ جدائی را
که کردم از سواد نسخهٔ یاس انتخاب امشب
به‌این سامان خجلت شد خیالش آنچنان روشن
که گوئی پرتو شمع است درفانوس آب‌امشب
توو مستانه دربزم حریفان باده نوشیدن
من و در آتش هجر تو مانند کباب امشب
ندانم برق رخسار که آمد در خیال من
که همچون موی آتش‌دیده دارم پیچ‌وتاب‌امشب
بیا جانا دل ویران مضرع را عمارت کن
که ازسیل‌سرشك این‌خانه گردیده خراب‌امشب

سالك کابلی بالاحصاری : دافغانستان د دیارلسمی پیړی د معروفو شاعرانو څخه یو مرزا محمودسالك بالاحصاری کابلی دی‌چه‌یو دیوان هم‌لری . ده د اعلیحضرت امیر دوست محمدخان په زمانه کښی ژوند کاوه . محمود په‌شعر کښی سر شاره طبع درلوده اودنظم انواع ئی‌استادانه اوپه‌مهارت ویل ، دیوان‌ئی چه په‌قلمی خط پیدا کیږی ، پرغزل، قصیده، رباعی، مخمس ، ترجیع اوترکیب بند ، مسدس، مناظرات ، مثنوی‌اوداسی نورو مشتمل دی . د شاه شجاع ، امیر دوست محمد خان سر د ار محمدعظیم خان اودوزیراکبرخان په مدح کښی قصیدی هم‌لری دده دوفات‌تاریخ په‌صحیح‌ډول نه دی‌معلوم . لحینو ۱۲۸۱هجری قمری کال‌ښودلی‌دی .لاندی‌غزل‌دده‌د کلام‌نمونی‌په‌حیث‌ولیکل‌شو :

غزل

بگرفتار مزن طعنه که تدبیر نداشت
چه کند قوهٔ سرپنجهٔ تقدیر نداشت
در جهان دگرانی نگران تاکی و چند
عکس‌تست این‌همه گی آئینه‌تصویر نداشت
شب‌همه‌شب زحرارت جگرم سوخت مگر
صبح صادق ببغل قرص تبا شیر نداشت
بی ریاضت نشود بندهٔ فرمانت نفس
حذر ازآن سگ درنده که زنجیر نداشت
طفل‌اشکم چقدر گریه که سالك نشمود
سر پستان ارادت نمی از شیر نداشت

شرر کابلی : کلب علیخان شرر د دیارلسمی هجری قمری پیړی د لویو لیکوالو او شاعرانو څخه شمیرل کیږی . دده دپلار نوم جعفر علیخان‌دی .

شرر دیرش‌کاله دامیر دوست محمد خان منشی اودبیر و ، دنوموړی دزیږیدنی او وفات نیټه نه‌ده‌معلومه . لحینودی‌دوزبر فتح‌خان دبیر بللی‌دی ، خوددده په دیوان کښی‌چه‌په‌هغه کښی یی ددوست محمدخان او نورو محمد زیو سردارانو په مدح کښی زیاتی قصیدی ویلی دی د وزیرفتح خان ذکر نه دی را غلی .

په‌دی دیوان کی هر ډول خبری شته . د نظم‌انواع‌یې‌په شعری مشکلو صنائعو سره په‌بشپړه استادی‌سره‌ویلی‌دی . دده‌ددیوان زیاته‌برخه غزلی دی چه غالبا دهغه دشاعرانو په‌سبك‌یې‌ویلی‌دی اوله‌لسوزرو بیتوڅخه زیات‌دی. دالاندی‌غزل دده‌د کلام نمونه‌ده:

دظهیر فاریابی په‌استقبال غزل

کی زخاطر آن‌بت سیمین فراموشم کند
هرشمی چون زلف خوددستی درآغوشم کند
پیش ز لفش شرح درد دل همیدادم ولی -
عشوه‌های چشم مستش محوو مدهوشم کند
حسب حال خویش میگفتم زبانی داشتم
لیك چشم سرمه سا از ذکر خاموشم کند
گردد اندر هر نظر چون مردمك در چشم‌من
دیده گر پرنور از خال بناگوشم کند
دوش گفت ازبوسه جانت خواهم‌آوردن بلب
کاشکی امشب وفا بر وعدهٔ دوشم کند
چون حیاتم را حباب آسا بود خانه پرآب
موج غم‌ترسم نیکدم خانه بر دوشم کند
تشنه‌ام عمریست ازهجرش بخون خود(شرر)
کاش امشب جام می خون جگر نوشم کند

گل‌محمد بن افغان : دافغانستان له سترو شاعرانو څخه یوتن دی، نوموړی ماوراء النهر ته تللی‌ؤ ، او هلته بی سترہ او مناسبه رتبه موندلې ده . د نصرالله خان په زمانه دنور اتا حکومت دیره په لاس کښی ؤ، اوسره‌له‌دې چه‌دحکومت په چارو بوخت‌ؤ، شعری طبعه‌یی هم درلوده یو دیوان لری چه تخمینا شل‌زره بیته‌به‌وی . گل‌محمد دخپلو غزلو په‌پای کی‌خپل تخلص (افغان) کوی دده دزیږیدنی اومړینی نیټه نه‌ده هر ګنده دومره معلومه‌ده چه‌په ۱۳ پیړی کی په ماورانهر کی مړ شوی دی . دالاندی غزل دده ده :

غزل

مکن ای باغبان تکلیف عزم گشت گلزارم
بود سیر چمن از دولت مژگان خونبارم
ندارم در بهار مفلسیها نیت دیگر
بگرد خویش گردیدن بودچون غنچه‌دستارم
بصد گرد کدورت گشته‌طبع روشنم‌پنهان
شرار سنگم و آئینه ئی‌درزیر زنگارم
بباید زد مرا آتش بجان خویش در محفل
برنگ شمع باید سوخت ازپاکندن خارم
بنور صد چراغ این بزم کی شود روشن
سواد طره‌ات پرورده از بس درشب تارم
جدا زان‌سروگل رخسار همچون‌بلبل وقمری
بچندین نوحهٔ جانسوز با (افغان) بود کارم

وارث : نوم یی نصیرالدین خواجهؤ نوموړی په شبرغان کښی زیږیدلی دی ، ده شعر ذوق لاره ، او تخلص یی (وارث)ؤ ، د تصوف په مسلك کی داخل اودپیرۍ اومریدۍ په سلسله کی شامل ؤ، په ۱۳ پیرۍ کی یی ژوند کاوه ،په شعر کښی یی دبیدل پیروی کوله . دالاندی غزل دده ده :

غزل

برنگ سرمه برلب مهر خاموشی مهیا کن
چو نور دیده در شیرازهٔ چشم بتان جاکن
بها ر جلوهٔ بی مد عائی رنگها دا ر د
درا در گلشن تجرید ورنگینی تما شاکن
اگر گل چید چشم دل زخار ستان تقلیدت
باشك نور بخش سر مهٔ تحقیق بینا کن
درین عالم زاسباب معیشت غم مخور (وارث)
دعای جان صاحب دولت صاحب مدارا کن

قاسم علی: دې شاعر دمحاربهٔ کابل یاظفرنامه، په نامه دحمید کشمیری دا کبر نامی په مقابل کی دانگریزانو په لمسون یوه منظومه جوړه کړې ده چه دحمید کشمیری دا کبر نامی تاثیر چه یو حماسی اثر دی چه له انگلیسانو سره دوزیر اکبر خان دجگړی په باب کی لیکلی شوی دی ، چه په پای کښی په ۱۳۳۰ کال دافغانستان دتاریخ دتولنی له خواچاپ شو، په خلکو کی کم کړی، خودامطلب ترسره نشو او اکبر نامی خپل شپه تاثیر په خلکو کی کړیؤ. دالاندی غوبیتونه له هغی څخه دنمونی په ډول ولیکل شول :

دملکی ویکتوریا په ستاینه کی

بنا م شهنشاه باتاج وگاه — جهاندار ویکتور یاپاد شاه
خداوند اورنگ فرماندهی — فروغ شبستان شا هنشهی
به تن جان پاك وچوعیسی بجان — چودریا بدست وبدل همچوکان
بعفت چو بلقیس با لا نژا د — چومریم بپاکیزگی پاك زاد
بفیروزی شاه فیروز فر — سراپاچواین نامه شد پرگهر
ستایش بیزدان که انجام یافت — ظفرنامه عنوان او نام یافت

په همدغه شان په دغه وخت کښی دانگلیس اوافغان جگړی په موضوع کښی د(جنگ نامه) په نوم یو بل اثرهم لیکلی شوی دی، چه دهغه ناظم څرګند اومعلوم نه دی، یوالحی دومره معلومه ده چه داشاعر دکابل د (ده یحیا) ؤ اودا اثرئی په هغه ځای کښی نظم کړی دی. دالاندی غوبیتو نه دهغه څخه رانقل شوی دی :

ایاپیر شا یستهٔ تا زه رنگ — بگوقصهٔ آن دویم باره جنگ
که در کابل افتاده غو غا چرا — شدعقرب چرا دشمن اژ دها
چو گفتی بگو گویمت ای جوان — که هر جا بود قوم تر سائیان
همه دشمن د ین پیغمبر است — کسی گر باودوست شدکافراست
الخ

مضطر : دده نوم رحمت الله اوپه ملا مشهوراوتخلص یی (مضطر) ؤ نوموړی د ۱۳ پیرۍ داخیرووختو له شاعرانو څخه دی . مضطر سربیره پردې چه ددینی علومو عالم ؤ په شعراو ادب کښی یی هم مهارت درلود، اودسلفو شاعرانو په تتبع او پیروی به یی اشعار ویل . دالاندی غزل یی د صائب اصفها نی په استقبال ویلې دی :

غـزل

سرشك ازآه درد آلود باعمان زند پـهلو
زلال قطره اش با گوهر عمان ز نـد پهلو
به آب عشق اگر تخمیر یابد جسم ناسوتی
برون از وضع جسمی گرددو باجان زند پهلو
درآن حالت که ازلعل مسیح اوسخن گویم
زشرینی دهـن بـاچشمهٔ حیوان ز نـد پهلو
درین مزرع چنان ممنونم از فیض بهار او
که کارم دانه ئی باخر من کاشان زنـد پهلو
جواب آنغزل (مضطر) چنین گوید که صائب گفت
که مصرع چون بلند افتاد بادیوان ز نـد پهـلو

غضنفـر : دی په اصل کی د کابل ؤ په هندوستان کښی یی سیر اوسیاحت کړی دی، لکه چه نگارستان سخن لیکی : نوموړی په ۱۲۸۱ هجری کښی ژوند کاو، دسلیم ذوق اودشعری قریحې خاوند ؤ، کله کله به یی اشعارویل . دالاندی غوبیتونه دده دی :

مطلع

از چاك دل نظر بر خ یـار میکنم
سیر چمن ز ر خنهٔ دیـوار میکنم

رباعی

زارم نـگه کر شمهٔ آمیز تو کـرد
درهـم زده ز لف فتنه انگیز تو کرد
دل را بدو نیم خنجر تـیز تو کرد
اینهـاهمه غمزه هـای خونریز تو کرد

نحیـف : دده نوم عبدالحمید بن غلام مجتبی بن غلام حسین دی . نوموړی دافغانستان دلویو اشخاصو له جملی څخه ؤ، اوله افغانستان څخه هندوستان ته تللی دی اوپه بهو پال کـی یـی استوګنه غوره کړه .

نحیف ددبیرۍ په چارو کی شپه شهرت درلود، دی په ۱۲۶۵ھ کښی زیږیدلی دی اوتر ۱۲۹۵ پوری چه دتذکرهٔ روز روشن دتالیف تاریخ دی ژوندی ؤ اوحج ته هم تللی دی بیـا بیرتـه بهوپال نه راغلی دی . په شعرویلو کښی یی شپه طبع لـرله . دالاندی غزل دده ده :

غزل

بیادعارض گلگون قبائی در چمن رفتم
گرفتم دامن گل‌را چو بو از پیرهن رفتم
چه پرسی ماجرای‌من بذوق آن لب شیرین
بزخم تیشهٔ‌غم زین‌جهان چون کوهکن رفتم
بیاد آمد نگاه ناز چشم فتنه پر دازی
رسید ای‌مهربانان اوبسر وقتم که‌من رفتم
فواره داشت شمعم شعلهٔ آه شرر افشان
(نحیفا) تابرون زین‌ظلمت آباد کهن‌رفتم

غیرت : داخچی دفتح آباد ؤ، اوبه دیارلسمه پیرې کښی ژوندی ؤ کله‌کله به یی شعر هم وایه دالاندی بیت دده دی :

ما بفکر غنچگی بر خود گره گردیده ایم
بر سرما همچو گل وا می شود دستار ما

ذاکر : دده نوم نجم‌الدین و ، اوتخلص یی (ذاکر) ؤ اودسنگچارك په‌تو گذار کښی زیږیدلی دی . ذاکر دافغانستان ددیارلسمی پیړۍ له‌مثنوی و یونکو شاعرانو څخه ؤ، ده په متقارب بحر دمیرمحمود بیګ سر پلی د احوالو په شرح کښی یوه‌مثنوی نظم کړې‌ده، چه‌دری‌زره بیته‌ده، اوبه۱۲٦۸هجری کښی پی‌هغه‌پای‌ته رسولې‌ده. دالاندی‌غوبیتونه له‌هغې مثنوی څخه‌دی:

## دخپرو په‌فضیلت کښی

شود تازه گلزارعقل ازسخن — بودحسن بازار عقل ازسخن
سخن پایهٔ سر فرازی بود — سخن مایهٔ کار سازی بود
سخن افگندسر بچوگان‌عشق — زند آتش اندر نیستان‌عشق
چو مسند نشینان بالا و پست — زتاب‌سخن جمله هستند مست
خرد را بود چشم بینش سخن — چراغ شبستان دانش سخن
الخ

میرمنیر : دافغانستان‌د۱۳پیړۍ دسترو شاعرانو اوعزت‌منو قاضیانو څخه دی، اودبلخ دی. میرمنیر بن قاضی میر حسین بن قاضی منیردی، له‌غو پلارو څخه‌دقضارتبه به‌میراث‌دوی‌ته پاته‌ده . نوموړی په‌شعر کی‌هم لاس درلود . دالاندی غوبیتونه‌دده‌دی :

مارا طواف کعبهٔ کوی تو آرزو است
دارم هدایتی طلب از یك نگاه تو
دارد امید شربت شیر یـن شفاعتت
(میرمنیر) تشنهٔ لب عذر خواه تو

قابل‌خولمی: نوموړی‌دخولم له‌خلکوڅخه ؤ، اوبه دیارلسمه هجری پیړۍ کښی یی ژوندکاو ، که‌څه‌هم دعالی تحصیلا تو خاوندنه و، خودشعر طبع یی درلوده، اوکله‌کله به یی بیتونه ویل . دالاندی غزل دده ده :

غزل

دیده ام روشن بروی یاربودی کاشکی
دامنم پر گل ازان گلزار بودی کاشکی
هرزمان صدموج میجو شید اندر دل مرا
لاله گون ازخون آن رخسار بودی کاشکی
شدسرم پامال عالم در تماشای عوام
پایمال توسن دلدار بودی کاشکی
نقد عمرم قابل‌آخر جملگی بر باد رفت
ذرهٔ خاکم بکوی یار بودی کاشکی

شاکر : دده نوم محمدشاکراوددرهٔ صوف له‌سیدانو څخه‌ؤ، په‌هغه لحای کښی لوی‌شوی اوهلته تربیه شوی‌دی، او ابتدائی تحصیلات یی هم‌هلته بشپړه کړی وو، اودبزګری‌ې اوکشت په چارویی شغل لاره، شاعرهم ؤ، اوخینی اشعار له هغه څخه په یاد پاته شوی دی . دالاندی غو بیتونه دده ده .

غزل

مهربان من اگر نامهربانی کرد کرد
جان‌غم پرور به‌تیر غم نشانی کرد کرد
گر ز استغنا ببالین فراغت خفت خفت
عاشق‌مسکین بکویش پاسبانی کردکرد
خستگانرا گربتیغ بیوفائی کشت کشت
بار قیبان دربرا بر کامرانی کردکرد
حال‌زارمن زهجران گر پریشان گشت‌گشت
دل‌بلخت‌خون چوغنچه‌زندگانی کردکرد

مخلص : ملاموسی بد خشانی دی نوموړی د ۱۳ پیړۍ له شاعرانو څخه ؤ ، وروسته له هغه چه ابتدائی درسونه ئی په بدخشان کښې پای ته ورسول نودلوړوتحصیلاتو دپاره بخاراته ولاړ . وروسته له‌لږې زمانې په‌خیلو همزولو او امثالو فائق شو اودبخارا دباچا په نظر کښی خوښ راغی اوهوښو لحلهٔی بخششونه اوزیاتې صلې و ر کړې اوهم دده لوی امامت ته ورسید . دالاندې غزل دده ده :

غزل

بستهٔ حلقهٔ زلفین نگارم کردند
همچو ضحاك گرفتار دو مارم کردند
مضطرب حالم و سیماب‌صفت درجوشم
منکر طاقت و محروم قرارم کردند
سوسن آسا ببدن جامهٔ عریان دارم
ازخجالت‌همه‌دم سربگنا رم کردند
لاله‌سان داغ دل اردارم وصحرا وطنم
بی خبر از ادب شهر و دیارم کردند

مجمر آسانه دل سوخته تنهـا دارم
بلـکه سر تابقدم غرق شرارم کردند
همچو منصور نگفتیم اناالحق زچه رو
بی گنه نا خلفان بر سردارم کردند
گلرخان همچوفلك ازپارغم خنجر ناز
روزوشب پشت خم و سینه فگارم کردند
شاهدان سوی بری خانه بافسون و فریب
برده ازخویش ندانم که چکارم کردند
شکر لله که چومرغ سحر ازروز ازل
(مخلص) دانهٔ خال لب یارم کردند

خادم: دده نوم میرزاداؤدبن میرزایوسفؤ، اودخلیفه دارالامان (رح)

له اولادې څخه ؤ نومـوړی د بلـخ دخرم په محله کـښې زیږیدلی دی او په هغه ځای کښې لوی شوی او تربیه شوی دی. دی دښې قریحی خاوند شاعر ؤ او کله کله به ئې شعر هم وایـه ددیارلسمې پیړۍ په اواخرو کښې ئې ژوند کـاوه. دا غـو لاندې بیتونه دده دی:

دست اندر گردن دلدار می زیبد بلی
بوسهٔ چندی ازآن رخسار می زیبد بلی
گرخرام آرد بگلشن دررهش سازم نثار
ازدودیده گوهر شهوار می زیبد بلی
جام صهبا و گلستان با عزیزان نکو
گرچه می زیبد بلی بایار می زیبد بلی
خادم رنجوررا گر بخشد ازشهد لبش
داروی درد دل افگار می زیبد بلی

مولینا محمد عثمان پادخاوی: محمد عثمان بن محمدعلی ؤ

نوموړی په ۱۳۰۸ هـ ق کال د لوگر دپاد خاو په کلـی کښې زیږیدلی دی په کوچینی توب ئې دعلومو په تحصیل پیل کړی او تحصیل ئې پای ته ورساوه پس له غوموډې دکـامل مرشد پـه په طلب کښې شو او دکابـل ده یحی تـه راغـی له هغه ځایه بیـا دمشرقی کنړته ولاړ اودسید محمد دطریقی په حلقه کښې داخل شو، وروسته له زیات ریاضت څخه دفیض در وازه دده پر مخ خلاصه شوه او یومتبحر عالم اوستر عارف و گرځید. په دری اوتازی ژبو کښې داقتدار خاوند ؤ، نوموړی مولینا تر (٤٥) کلنۍ پورې په علم فقهه کښې یواثر په تازی ژبـه او یـو ولس نور اثار په فارسی ژ به ولیکل چه نظم اونثر سره گډ ؤ چه دهغو نومونه په لاندی ډول دی: عجائب الاخبار، گلشن اسرار (نظم اونثر) بزم طرب (نظم اونثر)، نزهت المشتاق، گلچین بساتین، جامع النصوص (په علم فقهه کښې پـه عـربی ژبـه)، مشرق انوار، حیات العاشقین، اشجار مشایخ، سر نـامهٔ عـاشق (یوسف زلیخا) او بحرحیوان چه ترهغه وخته پورې نه ؤ بشیرشوی.

دده دمرینی نیټه نده معلومه خوترکومې اندازې چه څرگندیږی نوموړی د ۱۳ هـ پیړۍ په اواخرو کښې وفات شوی دی او په لوگر کښې دفن شوی دی. دده کـلام نمونه داده:

غزل

سحر نسیم دو گیسوی یـار می آید
شمیم حلقهٔ آن مشك بـار می آیـد
بباد صبح گـل جان من شگفته شود
که پیك از سرکوی نـگار می آید
صبا بمن خبر التفات یـار بگـو ی
کـه عمر من همه در انتظار می آید،
برین امید همه نقـد عمرم آخر شـد
کـه دلبرم سربوس و کـنار می آیـد
بیا حکـایت عشمان بـگو برای فقیر
ببوس لعل لب جان نثار مـی آیـد
(مولینا محمد عثمان پادخاوی دې وکـتل شی)

کاتب: دده نوم قربان او د نذرعلی خان زوی ؤ دی دهروراز دسرجوی دعلاقې او مشهور په (ملا) او تخلص ئې کاتب ؤ، د علومو اوفنونو په تحصیل ئې پیل وکړ په لږه موده کښې ئې تحصیلات تمام اولوړې مرتبې ته ورسید. په خطاطی کښې په تیره په نستعلیق اوثلث کښې ئې نښه اقتدار درلود، چه له پنځو سو نسخو څخه زیات قرآن کریم ئې په قلم لیکلی دی، او دشعر قریحه ئې هم لرله چه له اوبازرو څخه زیات بیتونه ئې ویلی دی، اوپه فقهه کښې دمختصرالوقائیة عربی کتاب ئې کامل په سلیس نظم په پارسی شرح کړی دی. دی داشعارو دیوان هم لری چه پرقصیده غزلو، مخمس، مسدس، رباعی او نورو باندې مشتمل دی. کاتب دخپل عمر په پای کښې په ستر گو پرونډ شو لکه چه پدې لاندې خپله رباعی کښې خر گندوی:

رباعی

فریاد که اسباب علوم کم شد
وزدیدن خـط دو چشـم نـا محرم شد
بی قوت تن نه چشم بینا و نه هوش
بر جای قلم عصا بـکف همدم شد

نوموړی د ۱۳ پیړۍ په منځنیو وختو کښې وفات شوی دی. ده به حمدیه او نعتیه اشعار ډیروویل. دادی چه دده یو مناجات د نمونې په ډول دلته راوړو:

مناجات

بسویت باز گـشت این بندهٔ بد کار یاالله
پشیمان از گـنا هان خود و اقرار یاالله
اتوب مـن جمیـع ذنبی والان استغفر
تقبل تو بتـی و اغفرلی یـاغفـار یـاالله

دائرة المعارف ۵۰۰ جلد

بلطف عام وفضل بیشمارت بعد ازین توبه
بزیر پردهٔ عصمت نگا هم دار یاالله
کجا آید زدست بندهٔ عاجز صواب آخر
مگر لطف تو باین ذره گردد یار یاالله
پی نفس و هوارفتم غلط کردم ندا نستم
ازین بی جاروش سوی صوابم آریا الله
هوای نفس وشیطان رهزنان دین و ایمانند
زمکر این دورهزن در آمانم دا ریا الله
بدنیا درمیان خلق صاحب عزتم کردی
به عقبی نیز ازلطفت نسا زم خواریا الله
زبانم را خداوندا بوقت مرگ وجان دادن
به این اسم شریف خو یش گویا داریاالله

نیازی : دده نوم شاه نیاز اونخلص ئې نیازی ؤ دبدخشان په یفتل کښی زیږېدلی دی. دی یوښه عالم او دقریحې خاوند ؤ اوپه هغې شاعر پروره او فضل خیزه سیمه کښی تربیه شوی دی نیازی سربیره دهغه عصر په مروجه علومو دتاریخ په لیکنه او ادبیاتو کښی هم ښه معلومات لرل اوداسلام دانحطاط داسبابو اوعلتونو په باب کښې ئې لیکنی کړی دی، ده پـه شعر کښی ښه قدرت درلود.او غوره اثارئې پریښی دی دالاندی څو بیتونه دده لهغې مرثیې څخه چه پې دمیراحمد صاحب مجددی دوفات په نسبت چه په ۱۲٦۹ کښې وفات شوی دی ویلـې ده دنمو نې پـه ډول دلته راوړو :

مرثیه

وای از جورو جفا های سپهر بیمدار
میکند درهر نفس صد گونه بیداد آشکار
یك دلی نبود کز آزارش نباشد غرق خون
نیست یك چشمی که ازظلمش نباشد اشکبار
هستی اندروی مثال برق خاطف بی بقا
چون شرر بس بی ثبات آمد حیات مستعار
اندرین دم زبد آل مجدد آنکه داشت
دانش بی حصر وحد فضل و کمال بی شمار
میراحمدصاحب انکه بود درخلق و ادب
درحیاوحلم وتمکین بی نظیر روزگار
چون تامل کرد دراحوال این محنت سرا
پر محقر جای دیدار را بچشم اشکبار
روی خود گرداندازوشدعازم درگاه حق
کرد در اعلای علیین سکونت اختیار
بهر تاریخ وفـات او نیـازی لحظهٔ
تاختم هرسوشده برمرکب فکرت سوار
هاتف غیبی درین آثنا کشید آهی و گفت
(میراحمددر بهشت آسود ) گوئی می شمار
۱۲٦۹=۱٦ء ۱۲۸۵

لهدې پاسنی مرثیې څخه هر گـنده بڼی چه نیازی په ۱۲٦۹ه کښی ژوند کـاوه .

خلالی : دده نوم ایشان سیدجعفر بن سید عبدالصمد خواجه بن سید محمد دائود ؤ چه په حضرت ایشان پیر معروف ؤ او دبدخشان لهساداتو څخه ؤ دده اصلی وطن رستاق ؤ او تخلص ئې خلالی ؤ . خیل ابتدائی تعلیمات ئې په رستاق کښی پای ته ورسول بیا دبخارا خواته ولاړ، او متداوله علوم ئې ولوستل . نوموړی په تصوف کښې ځینی اثار لیکلی دی چه لهغې جملی څخه دده دوه منظوم اثار د( گـلشن عشق ) او ( چمن عشق ) په نامه مشهوردی. سربیره پرهغه یوداشعارودیوان چه پرغزلیاتو مخمساتو اورباعیاتواوحکایاتواومستزادو اوترکیب او ترجیعاتو اونورو باندې مشتمل دی لهده څخه یادگـار پاتې دی ، چه له دوو پورتنیواثاروسره ټول لس زره بیتونه کیږی . نوموړی خلالی په ۱۲۸٤هجری قمری کال وفات شوی دی. دالاندې غزل هم دده دی :

غـزل

ساقی به بخش جام می لعـل فـام را
لب تشنگـان بادیـه صبـح و شام را
مجنون صفت زسوز گداز پری وشان
برهـم زد یم سلسلهٔ ننـگ ونـام را
در کوهسار عشق نهادیم پـای شوق
بگذا شتیم صحبت هرخـاص و عام را
شوق وصال او قفس قـا لبم شکست
آزاد کـرد بلـبـل افتـاده دام را
جان دادگـان شوق و محبت براه تو
کی طـالبند جـنت عالـی مقـام را
گفتا خلالی هر که بحمدت زبان کشود
شکر به بخش طوطی شیرین کلام را

عنایت : دده نوم میر سید عنایت الله ؤ، دی به «پیرراه دره» مشهور ؤ دی، دبدخشان دفیض آباد له فاضلو شاعرانو اوشاعر مشربو علماؤ څخه یو تن ؤ راه دره دبدخشان دفیض آبـاد له کلیو څخه یوکلی دی چه ښه آب وهوالری اوعنایت پهغه ځای کښی استوګنه در لوده . عنایت پهاول کښی دعلم په تحصیل بوخت شو وروسته لهغه دی په نقشبندیه تصوفی طریقه کښی داخل شو، په علم ادب اونویسنده ګیر کښی ئې اقتدار درلود(اصول المعیشت) په نوم ئې یواثر دحضرت پیغمبر (ص) د۳۳۳ احادیثو په شرح کښی لیکلی دی، اواشعار هم لری نوموړی په ۱۲۹۰ هـ ق کښی وفات شوی دی . دالاندې رباعی او نعت هم دده له منظومو اثارو څخه دی :

رباعی

دیروز بیك دوجام وبیما نه گذشت
امروز بنظارهٔ میخا نه گذشت
ای بی خبر از فواید علم و عمل
عمری که نداشتی بافسانه گذشت

نعت

ای ذات تو شد باعث ایجاد بر ا یا
لو لاك شده شاهد اکرام تو شاها
افتاد بخاك آن همه شو کت کفار
تاگشت بدنیا علم دین تو با لا
برمنزلت کوکب توخیل ملا ئك
در لیلهٔ معراج تو گشتند صف آرا
ازپای درانداخت مرا کثرت عصیان
چشم من و دیدار تو ای سرو ر عقبی
ازحضرت یکتا ست ترا اذن شفاعت
باشد به قیا مت کر مت معرکه آرا
آن روز نما گوشهٔ چشمی به عنایت
وا ر یختهٔ آبروی دینی و دنیا

دبیر : دده نوم میرزا محمد نبی دی اودبدخشان په چاه آب کښې زیږیدلی دی . په ۱۳ پیړۍ کښې په افغانستان کښې دوه نور دبیران هم زیات شهرت لری یودبیر میرزا محسن خان چه داحوالو شرح ئی تیره شوه بل دبیر میرزا محمدنبی خان دی چه تخلص ئی (واصل)ؤ اوبه ۱۳۰۹ق کښې وفات شوی دی چه وروسته به ئې بیان راشی . اودادبیر په اصل کښې بدخشانی اودخیلې زمانې یوه معروف خطاط ؤ دی دمیرشاه ز مان الدین خان چه به (۱۲۷٦) کښې وفات شوی دی دحضور دبیرؤ ، ده په شعر کښې هم اقتدار درلود چه اشعار ئې تیت وبرك دده دوطن دذوق دخاونداتو سره شته دی، که څه هم دده اشعار ډیردی خوددیوان په ډول مرتب اوتدوین شوی نه دی .دی په ۱۲۸۹ه کال دبدخشان به رستاق کښې وفات شوی دی او په همغه ځای کښې مدفون دی. دا لاندې مرثیه ئې دمیرشاه زمان الدین خان په تعزیت کښې ویلی ده او دده له طبعې څخه نمایندگی کوی :

مرثیه

فغان که ازحرکات سپهر بی بنیاد
شکست ساغرعیش ومراد داد بباد
درین چمن گلی نشگفت کان زروی جمال
زمانه عاقبتش همچو گل بباد نداد
کدام سرو ازین بوستان دمیدبلند
که اره جور حوادث بفرق او ننهاد
درین دوروزه عجب ماتمی که می بینم
کسی ندیده بچشم و کسی نداردیاد
غریو گریه رسید اززمین بگوش شما
فلك کبود بپوشید وزهره موی کشاد
شهنشهی که زجود وسخاوت واحسان
نمودملك بدخشان بعدل وفیض آباد
ندای ارجعی ازسوی رب خود بشنید
گذاشت ملك فنارو بسوی خلد نهاد
خمیده پشت محبان زبارغم چون دال
زگریه دیدهٔ مردم سفید گشت چوصاد
شبی بگربه نمودم سوال تاریخش
همینکه هاتف غیبی چنین جوابم داد
امید وار چنانم که آن شهٔ مغفور
زلطف رحمت رحمن (بخلد داخل باد)

١٢٧٦

فانی بلخی: نوموړی دبلخ له سترو شاعرانو څخه یوتن دی خیل تعلیمات ئې په بلخ کښې بشپړ کړی دی او په شعر اوادب کښې ئې نیه قدرت درلود، له څه مودې وروسته ماوراء النهر ته ولاړ اودامیرعمرخان دفرغانې دوالی په پایتخت خوقند کښې چه شاعر اودښې قریحې اولوړې طبعې خاوند ؤ استوګنه غوره کړه .

فانی دخیل عالی همت په اثر دپاچا دربار نه کم رفت وآمددرلود فضلی سمنګانی دامیرعمرخان د دربارملك الشعرا په خپله منظومه تذکره کښې فانی په استادی سره او کمال ستائی . فانی پودیوان هم درلود خواوس دده له آثارو څخه بې له یوځو غزلو نور زیات شی په لاس کښې نشته دده دمړینې نیټه که څه هم نیه نده څر ګنده خو د ۱۳ پیړۍ دنیمائی له شاعرانو څخه دی دالاندې غزل دده دکلام یوه نمونه ده :

غزل

گشت تادور آن قدرعنای یار از چشم من
میدمددرهر نفس صدلاله زار ازچشم من
آنقدرچون نقطهٔ جواله ام درپیچ وتاب
گرد کوی آن پری روشدحصارازچشم من
برامید وصل چندان اشك بار یدم نشد
عبرتی بردند اهل اعتبار ازچشم من
شکر لله خستگان عشق رادرهردیار
محشرتی بپیداست چون فصل بهارازچشم من
صد گلستان گرد گل آه من ازقطرات اشك
گل فروشندعالمی درهردیار ازچشم من
چون صدا پیچیده ام بر کوچهٔ هر پارسا
نوحه گر برهرسر کوه آبشار ازچشم من
دیدهٔ خونبار فانی گشت زیب مهو شان
رونق افزای تغافل چشم یار ازچشم من

**جوادهروی:** جواد دښې طبعې اوروان کلام خاوندۇ په هرات کښې تیرشوی دی اودماوراءالنهر خواته تللی دی دزېږېدنی ځای ئې هم هرات ۇ . جوادهم دامیر عمر خان په در بار کښې لار پیدا کړې اوددربار له شاعرانو څخه ګڼل شوی دی او دفضلی سمنګانی په تذکره کښې دده بیان راغلی دی فضلی ، جوادحکیم اوفاضل شخص ښودلی دی لکه چه له دې لاندې بیتو څخه هم څرګندیږی .

حکیم جهان گرد و آتش صفات
وطن داشت در پای تخت هرات
ظریف سخن سنج بسیار دان
کز آبیات دارد دوصد بوستان

☆ ☆ ☆

حکیم خرد مند عبدالجواد
زملك هرات است وپاك اعتقاد
بفر مودۀ شاه دارد عمل
بقانون حکمت سرآید غزل

☆ ☆ ☆

جوادآن حکیم حذاقت شعار — بفضل و هنر بود کامل عیار
بدانش ارسطوست هنگام حال — به حکمت فلاطون صاحب کمال
کمال خیالش باوج سخن — رسیدست در حلقۀ انجمن

دجوادپوهه اوعقل له پورتنیو ابیاتو څخه څرګندیږی، دده دزېږېدنې اومړینې نېټه نده څرګنده دده دا لاندنی غزل دامیرعمرخان په تتبع اودده دذوق اوطبعې داقتدار نماینده دی:

غزل

شبی بخواب رساندم به لعل یارا نگشت
فغان زدست برآمد که برمدارا نگشت
بدین امید دهم جان که شایدم روزی
نهی زبعد وفاتم تو برمزار انگشت
میاردست بنبض ای طبیب خواهد سوخت
زتاب آتش عشقم ترا چار انگشت
شبی ببام بر آمد نگار من چو هلال
اشاره کرد با بروی او هزار انگشت
چهار رکن بنای وجود می رقصند
بمجلسی که زنند یار بردوتارانگشت
گره زرشتۀ غم وا نمیتوانم کرد
اگر بود بهرانگشت من هزار انگشت
بزیر تیغ بتان دست وپا جوار مزن
کنند از اثر خون تونگار انگشت

**لاغر:** میرزا برهان الدین بن میر یوسف علی خان بن میرمیرزای کلان د ۱۳ پیړۍ دلوړوشاعرانو او فاضلو اشخاصو له جملې څخه یوتن دی، د بدخشان دی تخلص ئې لاغردی ، اودحضرت بیدل په پیروی ئې خورا ښه اوروان اشعار ویلی دی، په نثر کښې هم یواثر لری چه (آئینۀ سکندر ) نومیږی اوپه علم منطق ،فلسفه عقایدواونورو کښې ئې مشکل مسائل شرح اوبیان کړی دی . دده دوه نور آثارچه (جام جم) او«روضۀ نور» نو میږی دده له خورا غوره آثاروڅخه ګڼل کیږی، لاغریو دیوان هم لری چه قلمی نسخې ئې دذوق له خاوندانو سره پیدا کیږی . دده دزوکړې نیټه نده څرګنده خو په ۱۰۹۱هـ ق کښې ئې دده وفات لیکلی دی دالاندی غزل دده دی :

غزل

رفت آن بیرحم وداغ تازه بردل بازماند
آنقدر فریاد کردم طاقت از آواز ماند
شمع راسرتاپا داغ است حیرانم زچیست
ازغرور سرکشی ها سربزیر کاز ماند
پیشتراز آمدن رفتیم ما ازخویشتن
هستی ماراست آ نجائیکه در آغاز ماند
ناله کم کن نی ، که ازدرد فراق دوستان
اندرین بستان کجا یاور کجا دمسازماند
درمحبت سر نمی بندم بساز خامشی
دل بهرکس تا نهادم ناله ازپرواز ماند
عیش جاویداست لاغر بسکه هجران بتان
عشق تااظهار مطلب کردحسن از نازماند

**عاجز بدخشی :** میر محمود شاه خان بن میر احمد شاه خان دبدخشان دمیرانودسلسلې ورو ستنی حکمرانۍ دی، نوموړی دخیل عصرله پوهانو څخه یوتن ۇ خیل تحصیلات ئې په بدخشان کښې پای ته رسولی او په هغه ځای کښې تربیه شوی اولوی شوی دی ده دعصر په متداوله علومو په تیره په ادبیاتو کښې ښه لیاقت درلود اوپو داشعارودیوان ئې چه پر غزلیاتو قصیدو، رباعیګانو او نورو باندې مشتمل دی یادګار پریښی دی دی په ۱۲۹۵ کال وفات شوی دی .دالاندې غزل دده دی .

غزل

ای فلك اندیشه کن ماراجگر خون کرده ای
ناله بی مضراب از هرتار بیرون کرده ای
چون شفق شام غریبان را زخون دیده ها
بارهادیدم زبیرحمی تو پرخون کرده ای
من ندارم شکوه از دست توتنها ای فلك
خاك را برفرق جمشید وفریدون کرده ای
ساغر امید را برسنگ نو میدی زدی
باز میگوئی مرا ازناله دل خون کرده ای
برده ای دائم عصای ناتوانان را ز کف
قامت عاجز نظر کن حلقۀ نون کرده ای

رحیمی بلخی: میرزا عبدالرحیم ئې نوم‌دی دی په اصل کښې دبلخ‌دی‌خو په بخارا کښې تربیه‌شوی دی په‌شعر کښې دده تخلص «رحیمی» دی،دی یو آزاد مشرب‌سړی‌ؤ په‌علم موسیقی‌هم پوهیده مخصوصا تمبور ئی بنه‌غږاو ، دشعرطبع ئې‌هم لرله ، اوبنه ابیات به‌ئې‌ویل په۱۲۷۰هـ کال وفات شوی‌دی .دالاندې‌بیتونه دده‌دی :

بسکه بیمارم زتاب‌هجر آن‌مژگان و چشم
بهرامدادم عصائی باید از نرگس کنید
مفلسان را درتماشاگاه‌خوبان بار نیست
اغنیا بهر خدا رحمی باین مفلس کنید

قاضی عبدالسمیع راسخ :نوم‌ې‌عبدالسمیع‌بن میرزامحمدخان وارث بن‌حاجی‌عبدالرحمن‌خان‌و. راسخ‌د۱۳ پیړی‌ـه له شاعرانو څخه‌دی په بلخ کښې‌ئې تحصیل کړی دی ورو سته بیافرغانې ته تللی‌دی اوامیرعمرخان‌ته ورغلی دی چه‌دهغه له خوا ئی احترام اوعزت‌شوی اولوړه رتبه ئې حاصله کړ یده لکه دقضا رتبه اودآخوندی‌ـلقب چه دتیموریانو په سلسله کښې بولوړ منصب اوآخرنۍ رتبه‌وه، فضلی‌سمنگانی‌هم په خپله تذکره کښې دی په‌احترام‌یادکړی‌دی .قاضی‌عبدالسمیع‌دفرغانی‌دوالی امیرعمرخان له‌مړینې‌څخه وروسته بیرته‌خپل وطن‌ته‌راغلی‌دی، او دلته وفات شوی‌دی دده‌دوفات اوزېزیدنې نیټه نده معلومه‌راسخ بنه لوړه شعری‌طبع‌درلوده دالاندی اشارده دی :

غزل دامیرعمرخان په استقبال

غبار نقش‌پایت سرمهٔ چشم من است امشب
مژه دردیده‌ام بی‌ماه‌رویت‌سوزن است امشب
بمخموری هم ازسامان مستی نیستم‌فارغ
هجوم نشأخمیازه ساغرخرمن است امشب
چنین بیتاب زلف تابدار کیستم بارب
که‌چون‌ناقوس هرمو برتنم‌درشیون‌است امشب
مدان‌جز برگ گل آئینه‌دار رنگ درگلشن
بریزای نازنین‌خونم که‌زیب‌دامن‌است امشب
زفیض آبیاری جو هر شمشیر بیدادش
سراپایم‌زجوش‌زخم‌اشك گلشن‌است‌امشب
عصای‌موسی‌آن قدوید بیضاست آن ساعد
آن‌ساعد تماشاگاه دیدار توطورایمن است‌امشب
توان درناتوانی ایمن ازآفت‌شدن‌راسخ
گداز جوهر طاقت‌پناه جوشن است‌امشب

غافل: دده‌نوم میرزا غلام‌احمدتخلص‌ئې‌غافل‌ؤ‌اود«قاری‌دبیر» په‌لقب‌مشهورؤ دی د۱۳هجری پیړی‌ـه‌اوله نیمائی کښې‌دبدخشان ددهنوخاش په کلی کښې زېزیدلی دی اودهغه‌ځای‌له یوی‌شریفی کورنۍ‌څخه‌ؤ، ده‌خپل‌تحصیلات دبدخشان په‌سیمه کښې پای ته رسولی‌دی اوپه‌شعر اوشاعری‌ـ اوخطاطی‌ـ کښې ئې بنه‌مقام درلود دنستعلیق‌خط ئې په بنه خوش خطـی‌ـسره لیکه، دی دبدخشان‌دحکمران میرباباخان دبیرؤ اوبنه اشعار به‌ئې ویل چه دده‌اشعارتیت‌اوپرك پیدا کیږی اودخپلې پریشان‌حالی‌ـ له کبله ده ونه‌شوکولای چه خپل‌دیوان تدوین کړی،غافل‌به۱۲۹۶ کښې له‌بدخشان‌څخه مزار شریف ته‌تللی‌دی اوپه‌همغه‌کال هلته وفات شوی‌دی . دالاندې غزل دده ده :

غزل

شرارآهنگم وجزسازوحشت نبود آرامم
متاع صبحم ومحمل بدوش ناقهٔ شامم
نمیدانم چسان گل کرده ام درعرصهٔ عالم
چومه جز پیکرخم نیست‌درآغاز وانجامم
درین‌وادی چومن‌یارب مبادا کس گرفتاری
که‌چون‌طاوس گردد کسوت من‌حلقهٔ‌دامم
غم‌می‌نیست چون‌دورمکافاتم درین گلشن
چوخون تاك و مینا خورد کزمیناخوردجامم
مکن مشق تبسم تانسازد دهردل خونت
که‌ازخط جبین غنچه این گردید اعلامم
دل‌آگه‌کدورت از حوادث بیشتر یابد
برین‌معنی درین غفلت سراغافل بشد نامم

جنونی: دده‌نوم میرزا ابو الخیر اودجنیدالله‌حاذق له‌خپلوانو څخه‌ؤ ، دې‌دبنې طبعې‌خاوند اوبنه اشعار به‌ئې و یل یو وخت فرغانی‌ته‌هم تللی اودهغه ځای له‌فضلاؤ او شاعرانو سره‌ئې صحبتونه کړی‌دی دده دزېزیدنې اومړینې نیټه نده معلومه دالاندې‌شوبیتونه چه‌دیومیر په‌ستاینه کښې‌ئې ویلی‌دی دده دی :

ای والی وا لا گهر ایزد نگه دار سرت
فرمان برت بخت‌نکو اقبال‌شد هم‌چاکرت
یارب نبینی روی غم تو در جهان زندگی
دولت همیشه همقرین هردم سعادت یاورت
خواهم که‌چون گل‌درچمن‌هرروزبارنگ خوشی
چندان به‌بینم بیش ازین بشگفته وتازه ترت
شد از چراغ عدل تو روشن ضمیر بیکسان
گردید خوش فرحت‌فزا شهرو دیارکشورت
دنیا ست فا نی بی بقا عقبی ترا بخشد خدا
ایمن ز هر بیم د غا سا زد گـر یم داورت
بنده جنونی حزین چون مور باین پای لنگ
یعنی که او روی دعا آورده ایندم بردرت

ذوقی : دده‌نوم عبدالقهاربن‌محمدکریم اوبه «ایشان‌داملا» مشهور اوتخلص ئې ذوقی‌ؤ .پدغه‌عصر کښې دبدخشان ددرواز

په‌سیمه کښی دوه نفر شاعران دذوقی په تخلص پیداشوی‌دی‌چه دیوه نوم غلام‌شاه وٗ چه وړاندی ئی بیان تیر شو او دبل نوم عبد القهار وٗ چه همدغه سړی‌دی عبدالقهار دغلام‌شاه له وفات څخه ٤١ کاله وروسته وفات شوی‌دی . عبدالقهار ذوقی مروج ابتدائی علوم په‌خپل وطن کښی‌تحصیل کړی بیا بخاراته تللی دی اوعلم قال اوعلم حال ئی‌هلته تحصیل کړی دی نو موږی په‌اتیاکلنی عمر په١٢٩٥هجری کال وفات شوی‌دی . دالاندې څو بیتونه دده له‌یومخمس څخه‌دی :

آتشم در خرمن خاشاك شورو شر زدم
صفحهٔ دل را بتار راستی مسطر زدم
زین گلستان تا گلی از عجزمن برسرزدم
در بساط بی نیازی تکیه بر بستر زدم
آسمان رابست دیدم خیمه بالاتر زدم
در پند ناصحان را من بگوش آو یختم
تن زنخوت تاج برسرداشت خاکش بیختم
خاطر ازتشویش دل زد گه‌بغم آ میختم
دل‌زداغ آزرده خاطر بود خونش ریختم
سینه ازناخن شکایت داشت برخنجر زدم
تامحبت در دلم نفزود جسم جان نیافت
تانشد نبضم جوان اصلاسرم سامان نیافت
سعی تا درکار نامد بطن خالی نان نیافت
هیچکس بی‌خدمتی‌ره بردر سلطان نیافت
صد همارا بال دادم تا پری بر سر زدم

والی: دده‌نوم میرسلطان‌شاه بن‌میریوسف‌علی‌خان‌شهیددی دمیرزابرهان الدین‌خان لاغربدخشی وروردی دیر ځله به‌ئې په‌شعر کښې (والی) تخلص‌کاوه‌ده دخطاطی‌په‌فن کښی ښه‌مهارت درلود او په‌شعر اوادب کښې ئې هم لیاقت درلود ، دده دیوان ندی‌تدوین‌شوی‌خوښه‌اشعارئې توټه‌توټه‌لاس‌ته‌راځی‌دی د ١٢٩٨ او١٢٩٩ کلو په‌منځ کښې وفات شوی‌دی . دا لاندې څو بیتونه دده‌له‌هغې مرثیې‌څخه چه دمیرمحمودشاه خان عاجز په‌مرثیه کښې ئې ویلی‌ده اقتباس‌شوی‌دی .

فغان‌فلك به‌بی مهری سخت مشهوری
اگر وفای ترا نیست رو که معذوری
نه بی وفائیت امروز بهرما تنهاست
که کردهٔ تو فراوان چنان ومغروری
کسې ندید و نه‌بیند باول وآخیر
زدست‌جور توای چرخ سفله مسروری
غرض‌زشکوه همین است کان‌نوادردهر
خیال‌تخت عدم کرد و یافت دستوری
نموده والی بیدل سراغ تاریخش
زپیر عقل بصد ، آه وعجز ومهجوری
گذاشت پای‌جفا سرزروی مهر کشید
جواب داد ز یمن صواب (مغفوری)

پرته‌دفا دجفا(الف=١) اوسرمهر(م=٤٠) دعاجز دوفات نیټه‌پلاس‌راځی چه١٢٩٥هـ ق مراده ده .

شه‌ترك‌خان : دبدخشان‌ددرواز اودفضل او کمال دخاوندانو امراؤڅخه یوتن‌ؤده به‌شاعران اوادیبان‌روزل په‌خپله‌ئې هم‌شعری ذوق‌درلود اوښه‌شعر به ئې وایه اوخپل اشعار به‌ئی په مشاعره کښې‌اچول‌او په‌خپله به‌ئی تقریظ اوانتقادهم کاوه‌دی‌تر١٢٤٠هـ ق یورې ژوندی‌وٗ دالاندې رباعی‌هم‌دده .

رباعی

رخسار تو بالعل بدخشان ندهم
زلفین تو باسنبل و ریحان ندهم
گروصل تویك لحظه میسر گردد
با جام جم وتخت سلیمان ندهم

میرزامحمودخان : په‌اصل کښې دکابل‌وٗ او په‌بدخشان کښې ئی‌سکونت‌کاوه په‌هند کښې‌ئی لوړتحصیلات پای ته ورسول اوډلویو فضلاؤ په‌ډله کښې‌ئی‌ځای‌ونیو دتحصیل‌له‌پای ته رسولو څخه وروسته‌بیرته بدخشان‌ته‌راغی او په‌درواز کښې‌ئې‌استوګنه غوره‌کړه اود درواز دامراؤ په در بار کښې ددبیری رتبې ته ورسېد . میرزامحمود په شعری سبك کښې دهندی سبك تر تاثیر لاندی راغلی‌دی او په هغه سبك کښې‌ئی خپل اشعار ویلی‌دی . میرزامحمودخان د١٣ بیړی د اول نیمائی دشاعرانو څخه دی ددرواز په محلی‌ژبه ئی‌هم ښه رنګین اشعار ویلی‌دی دالاندی رباعی‌ئی دشه‌ترك‌خان درباعی په‌استقبال‌چه‌له‌ده سره‌ئی‌مصاحبت درلود اوهم‌ئې دبیرو و یلی ده .

رباعی

من روی ترا بماه تا بان ندهم
زهر آب غمت بآب رضوان ندهم
هرگاه که جان ستان بیاید‌بسرم
تا روی ترا ندیده ام جان ندهم

میرزالطف‌الله‌خان درواز: دی‌هم دشه‌ترك‌خان معاصروٗچه دواړو به یوله‌بله مشاعره سره کوله ، ښایسته اونغز اشعار لری دالاندې‌رباعی‌ئی‌دشه‌ترك‌خان درباعی په استقبال ویلی‌ده :

رباعی

با قوت لبت بگوهر جان ندهم
کفر سر زلف تو بایمان ندهم
گفتم‌خونم بگردن غمزهٔ تست
خندید و به‌غمزه گفت‌تاوان ندهم

میرزاعزیز بیگ: دی‌ددرواز اودشه ترك خان له معاصرینو څخه‌دی دده دزیږیدنې اومړینې نیټه نده معلومه ، دده له‌اثارو څخه پرته له‌یوې رباعی چه‌په مشاعره کښې ئې ویلی ده نور څه لاسته ندی راغلی هغه‌رباعی داده :

رباعی

من‌وصل توای نگار آسان ندهم
تاروز فـراق را پر یشان ندهـم
با خنجر نازتو اگر کـشته شوم
آن کشتهٔ خویش رابصد جان ندهم

محوی‌میمنگی : دده‌نوم نعمت‌الله اوپه‌خلیفه‌معروف اوتخلص ئی‌محوی‌ؤ نوموړی دوطن د۱۳ پیړۍ له‌صوفی مشربوشاعرانو اوله‌مجذوب الحالو عارفانوڅخه ؤ .

له‌دې کـبله چه‌له‌پخوا څخه دطریقت په‌سلسله کښې داخل ؤ نوپه‌علم‌حال کښې‌ئې زیات شغل‌درلود ، دده دزیږیدنی اومړینی نیټه‌معلومه نده یودیوان‌ئی دمحوی په‌نامه شته‌دی ، داغزل چه دخلقو په‌منځ کښې‌ډیرشهرت لری دنمونی په‌ډول دلته‌ولیکل‌شو:

غزل

عندلیب نوگرفتارم چمن گم کرده ام
من‌اسیر غربتم راه وطن گم کرده ام
گـرسراغ یاریابم طی منزل میکنم
همچویعقوبم که بوی پیرهن گم کرده‌ام
همچومجنون در بیابان غمش دیوانه‌ام
آتش‌طورم که راه انجمن گم کرده‌ام
یوسف‌غم‌دیده ام از مصردور افتاده‌ام
پیر کـنعانم رهٔ بیت‌الحزن گم کرده ام
محو یادرعرش اگرعریان سرابینی‌چه‌غم
کـشتهٔ تیغ تمنایم کـفن گم کرده ام

صارمی‌هیروی: احمدقلی بن سکندر خان نظـام‌الـدوله دهرات د ۱۳ پیړۍ له‌لویو شاعرانو څخه‌دی نوموړی دندیمان په کـلاکښې زیږیدلی دی په شعر کښې ئې شه اقتدار درلود . احمدقلی صارمی د هغو شـاعرانو د احوالو په باب کښې چـه دحضرت بیدل له‌زمانې څخه ئې دده تر زمانې پورې ژوندون کړی دی یوه تذکره لیکلی ده چه میکده نومیږی . دی په۱۳ پیړۍ کښې وفات‌شوی اوداحمدجان په‌روضه کښې خښ دی . دده دیوې‌قصیدې له‌یوه بیت‌څخه داسی‌څرگـندیږی چه تر۱۲۶۵ هجری پورې ژوندی ؤ. دالاندی غزل دده‌دی :

غـزل

بدست آمد زمام از دولت عقل رسا کم کم
شود ازدام مرغ زیرك افتـاده رهـا کم کم
توان بـادام الفت مرغ دانارا نمو دن صید
تبسم میکند بیـگـانـگـان را آشنـا کم کم
برومی خور ریاکم کن کزین شیخ‌ریا پیشه
بـگر دون میرسد بوی‌ریـا از بوریا کم کم
زلطفم پیر دردی کش نهانی داد این پاسخ
که در کش‌آشکارا می که برهی ازریاکم کم
ندانم کـاروان دوست را منزل کجا باشد
ولی‌در گوش‌جان‌بازان‌رسد بانگ دراکم کم
مراگرخون بریزدنرگس مستت چه‌باکم‌زان
ززلف سرکشت خواهم گرفتن‌خونبها کم کم
سرجان صارمی خاطرپی تادیب‌هرنا اهل
که آید ناسزائی‌ها یقین از ناسزاکم کم

محزون : دافغانستان د۱۳ پیړۍ له بـاذوقـه او مقتدرو شاعرانو څخه‌یوتن‌دی ده د۱۳هجری‌پیړۍ په دوهمه‌نیمائی کښې ژوندکاوه، له‌هغو ابیانو څخه چه دعبدالله خان اهکزی د مړینې دتاریخ په‌باب کښې‌یې‌ویلی‌دی څرگـندیږی چه‌تر۱۲۵۷ هجری پورې ژوندی ؤ، دده‌نوم معلوم ندی. دده تاریخیه بیتونه دادی:

دریغ وآه زبیداد چرخ دون پـرور
فغان زگردش افـلاك وکـینهٔ اختـر
نبود بررخ آنـانکه رهگذار غبار
ببین که عاقبتش فرش خـاك‌شد بستر
امیر لشـکرو سـالار قـوم عبـدالله
خجسته منظرو والاتبـار و نیـك سیر
قدم نهاد چو درعرصهٔ جهـا دفرنـگ
درید پردهٔ ناموس کفر را یـکسر
بروز معرکه که در کـار زار، رستم بود
فرا سیاب شکوه آن یـل فـریدون فر
ازین سراچهٔ فـانی‌ودار بـی بنیـاد
چوآن مجاهد دین متـین ببست کمر
زداغ مـاتم او صبح زد گریبـان چـاك
نمـود شام لبـاس سیه ز غصه بسر
همین‌بس است که‌درراه دین احمد شد
شهید اکبر و مقبول خـالـق اکبر
زعقل‌سال‌وفاتش‌چوجست محزون گفت
سـر جهـاد بیفـزا بـاسـم پیغـمبر
۱۲۵۴+۳ = ۱۲۵۷

محمدعمرفوفلزائی: دده‌نوم‌محمدعمر بن‌محمدعلم‌خان‌دتیمورشاه دوکیل‌الدوله دشاه زمان بن عبدالله‌خان وکیل‌الدوله ؤ تخلص ئی (عمر) ؤ دکابل د دیوان بیگی په‌کوڅه کښې ز یږیدلی او

یوپوه سړی ؤ په‌خطاطی کښې‌ئې هم مهارت در لـود، ده دامیرمحمدافضل خان اوامیرشیرعلی‌خان په وختو کښې په‌مختلفو ځایو کښې حکومت کړی‌دی دی په ۱۲۶۰ه‌کال‌اول وارد کرمې په حکومت مقررشو، نوځر گـندپښی چه د۱۳هجری پیړۍ په اوله نیمائی کښې به‌زېږیدلی‌وی‌اوپه۱۲۹۳ه په بلخ کښې‌مړشوی‌دی اوپه خواجه‌خیران کښې‌خښ‌شوی‌دی‌دپارسی‌اودپښتو ښه‌شاعر ؤ .

دالاندی غزل دده‌دی غزل

تاچشم غضب ناکش بینم به عتاب اندر
میسوزم‌و میسازم چون شمع تـاب اندر
ازبسکه جنـون افگند مـارا بخیال او
میگریم ومیخندم چون طفل بخواب اندر
در شعلهٔ حسن او تـاب نـگهی نبود
بنشینم وبر خیزم چو ن نقش بـاب انـدر
ببریـد زبـان مـا بـا خنجر غـم امـا
میدانم وخـامو شم چون‌خط بکتاب اندر
ازجور رقیبا نش گـردید بلـب جانـم
می بینم ومیسو زم چونش بر کـاب اندر
غوغای قیـامت گشت ازظلم جهان یکسر
تـافرص کمر وارش گشته به نقاب اندر
ازروی جنون گـفتم گربوسه‌دهی گـفتا
زین عقل خلل زاید عمر به شتـاب اندر

اذنب : د۱۳ پیړۍ دآواخرو له‌شاعرانو اوخطاطانو څخه یوتن‌دی، دده‌نوم سیدخان بن‌قاضی سیدنعمان دی ، دی په‌اصـل کښې دشبرغان دی اوپه شبرغان کښې ز ېږیدلی او هلته لوی شوی اوتربیه شوی دی، اذنب دخطاطی اوقلم په‌واسطه خپله نفقه برابروله اوپه‌شعر ویلو کښې‌ئې هم مهادت درلـود، اویو دیوان‌ئې هم‌مردف کړی‌دی چه‌اوس نه‌پیدا کېږی ، خوغزلی‌ئی توته توته په‌لاس راځی ، دالاندی بی‌مطلع‌غزل او خوبیته ئی دمأثر بلخ له تذ کرې څخه اقتباس شول :

تو از سررشتهٔ آغـاز وانجامم‌چه میپرسی
تلف گردید نقدو نسیه یکسر درسراغ یار
سرشتم‌ازازل‌چون‌ذره باخورشید پیوسته
رهی‌بروانه امرا نیست جز گرد چراغ یار
چمن خواهی بهار نامرادی را تماشا کن
برنـگ‌لاله گل کردست دردل‌تازه‌داغ‌یار
و لـه
سرخ رو بودن اذنب ز کمال شوق است
خالی از می نبو د صو رت مینـا گـلنار

داذنب دیوه کـتاب‌له‌آخرخځه چه‌دافغانستان‌دشمالی ولایاتو دیوه‌خان‌دپاره‌ئی لیکلی‌دی خو گـندپښی چه‌دی تر۱۲۸۷ه کال پورې چه‌هغه کـتاب‌ئی تکمیل کړی دی ژوندی ؤ .

میرابوسعید اوبهی: د۱۳ پیړۍ داولووختو لـه شاعرانو څخه‌دی ،دهرات په‌اوبه نومی‌ځای کښې‌زېږیدلی‌دی ، ده په‌شعر اوادبیاتو کښې ښه‌مهارت‌درلود دالاندې‌دوې رباعی دده دی :

رباعی

گرمی از گردش چشم تو به پیما نه شود
زاهـد چله نشین ساکـن میخـا نه شود
شمع‌راچون‌سحرآمد بسرش آتش شوق
شایـد آگـاه زسوزدل پـروانـه شود

و له

عمرم همه سر بسر تبـاهی کردن
کارم همه شب نامه سیاهی کردن
من بد بدم از بد بد آمد بوجود
اندر عوضش تاتوچه خواهی کردن

واله: دده نوم حامد خواجه بن خواجه رحمت الله متخلـص په(واله )ؤ دی په۱۲۱۰ه‌ق کال دبدخشان ددرواز په طویلدره نومی‌ځای کښې زېږیدلی‌دی د تحصیل دپاره هندوستان ته تللی اودمروجه علومو له‌اکـمال څخه‌وروسته بیرته وطن‌ته‌راغلی‌دی اوپه‌ادبی علومو کښې‌ئې پوره معلومات درلود اوښه اشعارپه‌ئې هم‌ویل په۱۲۸۵ه‌ق کښې‌وفات‌شوی‌دی‌اوپه‌خیل‌ځای کښې‌خښ‌دی دالاندې خو بیتونه دده دی:

رخ وزلف‌وخط ولعل‌لبت ای ماه‌جان‌پرور
بودشمس وشب و مشك چهارم حقهٔ شـکر
بخاك پای‌تو رخسـار خود را برزمین مالد
فریدون و قباد وارد شیرو بـابك وسنجر
نهد گردون بپـایت سر بردفرمان کـندخدمت
اول‌دارادوم خسرو سوم خاقان دیگر قیصر
نشان نعل کـفش او! گر بر من رسد واله
کـنم‌سجده دهم بوسه‌نهم بررخ زنم‌برسر

ملامحمدنادر: دی‌هم د۱۳ه‌ق پیړۍ د آواخرولەشاعرانو څخه‌دی اود(واله) معاصر اوهم مجلس‌ؤ دی‌له‌واله‌څخه وروسته په۱۲۸۵ه‌ق کښې‌وفات‌شوی‌دی‌ځکه‌چه‌دحامدخواجه(واله)په‌مرثیه کښې‌ئی یوه‌تعزیت‌نامه‌ویلی‌ده‌دالاندې دوه بیته‌له هغې څخه‌دی :

کـشید رخت‌سفر زین جهان محنت و غم
فریـد عصر وبـدانش بهر دیـار علـم
بفکر رفت بتار یـخ حامـد مـرحوم
نیافت نـادر مسکین بجـز دریـغ والم

داملا ارباب محزون: دی په اصل کښې دبدخشان دکشم دی خیل‌تحصیلات‌ئې په‌بخارا کښې پای ته‌رسولی دی ، محـزون ښه شاعرؤ اوپه‌نثر کښې‌ئې‌هم مهارت‌درلود دده آثار اواشعارپه‌یو

دیوان کښې مردف او تدوین شوی دی . په۱۲۷۷هـ ق په کښم کښې وفات شوی دی او به همغه ځای کښې خښ دی . دالاندی غزل دده دی :

غزل

سر درهٔ جانانه فداشد چه بجا شد
از گردنم این دین اداشد چه بجاشد
ازخون دلم بسته حنا برسرانگشت
خون دلم انگشت نماشد چه بجاشد
ازدوددلم وسمه کشیدست بر ابرو
دوددل من قبله نماشد چه بجاشد
می خواست رقیبم که من ازغصه بمیرم
دیدی که خودش زود فنا شد چه بجاشد
صدعقده بدل داشتم ازعقدهٔ زلفش
تیر نگهش عقده کشا شد چه بجاشد
محزون زغم عشق تو افتاد ببالین
چون ماه نو انگشت نماشد چه بجاشد

یاری دروازی : نومورې دبدخشان ددر واز د ۱۳ پیړۍ له ستروشاعرانو څخه یو تن دی دده نوم ملا یار محمد بن ملا ملک دی دی بخاراته تللی اودامیر مظفرخان دربارته رسیدلی ، وروسته بیا کابل ته راغلی دی بیاهندوستان ته تللی دی له هغه ځایه بیت الله شریف ته تللی دی، دهغه وخت پاچا دده په پلټنه پسې یوسړی لیږلی چې خووئی نه موند . دی د۱۳ پیړۍ د آواخرو اود۱٤ پیړۍ داولو وختو له شاعرانو څخه دی دی نه یوالحې په فارسی ژبه کښې خوازه اوښایسته اشعارلری بلکه په محلی ژبه کښې یې هم ښه آثار لرل چه لاسته راغلی دی . دالاندې غزل دده دی :

غزل

چون قدت درچمن دهرصنوبر هم نیست
بعذار تو مقابل گل احمر هم نیست
این نه دیریست که آه دل صد پارهٔ من
انتقام از تو کشد فرصت محشر هم نیست
به تانی برسد آنکه چومضمون دارد
نامهٔ شوق که پربال کبوتر هم نیست
صفحهٔ روی توجانا چه بلاخوش رقم است
که خط سبزوار حاجت مسطر هم نیست
نسبت لعل لبش را بشکر نتوان کرد
که به شرینی او نسبت شکر هم نیست
ساقیا باده بیارا که درین خلوة خاص
محتسب نیست رقیب کسی اختر هم نیست
خون شوای ناله زاندوه زیان کاری من
که دل از کف شد ودلدار میسرهم نیست
یار بادولت و صلی که تو داری حاشا
کین دم ازحضرت سلطان مظفر هم نیست

شهید : محمدرسول شهید دمزارشریف دجنوب شرقی سیمو دمارمل نومی ځای دی په۱۲٦۱هـ کال ز یږیدلی دی، دابتدائی تعلیماتو له تکمیل څخه وروسته بخاراته تللی دی ، او عربی علوم ئی هلته پای ته رسولی بیابیرته وطن ته راغلی دی ، دی ښه شاعر او په خطاطی کښې ئی هم مهارت درلود، داشعارو یو مکمل او مردف دیوان لری چه دده داستو ګنی په ځای کښی اوس هم پیدا کیږی، دی د۱۳ هجری پیړۍ په آخرو وختو کښې وفات شوی دی . دالاندی غزل دده د کلام نمونه ده :

غزل

شیوهٔ اهل جنون در کوه و صحرا رفتن است
عاشقی در کام اژدر بی محابا رفتن است
میرسد دل از تپیدن عاقبت روزی بجای
سیل را از هر طرف آخر بدریا رفتن است
نیست بر بودو نبود ما مدارا آنقدر
رفتن ما آمدن ایستادن ما رفتن است
از پی روزی دویدن نزد ارباب خرد
همچو ماه مصر د نبال زلیخا رفتن است
شبنم از همت بمعراج فلکها میرسد
معنی معراج از پستی به بالا رفتن است
ای شهید عشق از جور و غم دنیا منال
این سرارا آمدن امروز و فردا رفتن است

قلندر : دده نوم قلندر بن شاهین دادولی واود«ملا» په لقب ئی شهرت درلود خو په شعر کښې ئی خیل نوم «قلندر» یادکړی دی، دی د۱۳ هـ ق پیړۍ په اولو وختو کښی دپنجشیر په پریان کښی زیږیدلی دی، ده دهغه عصر په علومو اوشعراوادب کښې معلومات درلودل روانه طبع ئې لرله اوښه اشعار به ئی ویل، له (٦۰) کاله ژوندون څخه وروسته وفات شوی دی . دالاندی څو بیته دده له هغه مخمس څخه اخیستل شوی دی چه دخیل زوی په مرثیه کښې یې ویلی دی :

مخمس

تاتو رفتی زبرم جان پدر می نالم
دردو داغ تو بدل کرده اثر می نالم
میخورم خون دل ازخون جگر می نالم
بلبلم درغم گل شام و سحر می نالم
گشت سر تاقدم پرز شرر می نالم

دائرة المعارف ۵۰۰ جلد

آه وافسوس که آن سرو خرا مانم رفت
قوت جان ودل ونور دو چشما نم رفت
آرزوها بدل آن آرزوی جانم رفت
صد دریغا زچمن نوگل خندانم رفت
نو نهالم نرسیده به ثمر می نالم
مرگ گردیده مسلط بسرشاه و گدا
پیشه کن صبر قلندر تو بدر گاه خدا
چون بجز رحمت حق نیست کسی پشت وپنا
هوش کن تانه نهی پای در راه خطا
زانکه را هیست پرازخوف وخطر می نالم

داملا شمس الدین : دی دنهرین وْ، په ۱۳ پیړۍ کښې زیږیدلی دی اوپه لږ موده کښې ئې له علم او ادب څخه برخه اخستی ده، اودمیرسلطان مراد بیګ اتالیق ندیم شو ، هغه وخت چه سردار محمد اسحق په ۱۳۰۵ه کال له امیر عبدالرحمن سره په مخالفت اوجګړو پیل وکړ او امیرسلطان مرادبیګ ئې خپلی مرستی ته وغوښت نو شمس الدین هم پدغه مسئله کښې له سلطان مرادبیګ اوسردار اسحق سره ګډون وکړ، هغه وخت چه دوی له امیر عبدالرحمن څخه ماتی وکړه نودماوراءالنهر خواته وتښتېدل اودی هم ورسره وْ، او دسردار اسحق خان اوسلطان مرادبیګ داحوالو اودهغو د جګړو په باب کښې ئی یومنظوم کتاب لیکلی دی . شمس الدین د پردیسۍ په حال پنځلس کاله دختلان په سیمه کښې تیر کړل ، تر څو چه دامیر حبیب الله په امر بیر ته خپل وطن ته راغی ، ده آثار او خوازه اشعار له خانه څخه یاد ګار پر ښې دی .

دالاندی غزل دده د کلام نمونه ده :

غزل

بسکه دل درآتش شوقت کباب افتاده است
سینه ام ازدودوغم در اضطراب افتاده است
بسکه دامان فراغت چیده ام ازروز گار
الفت دل در بیابان شتاب افتاده است
هر کسی دارد بخود عیش و نشاط و خرمی
قسمت ما کلفت و رنج وعتاب افتاده است
حالتی دارم که چون شمع ازسرانجامم میرس
دیده پرنم سینه برغم دل کباب افتاده است
گفته ام رمزی برایت اندك از دیوان غم
مصرعی از گوشهٔ جز وکتاب افتاده است
گرترا پرسد کسی از حال شمس الدین بگو
درکنار آر زوی اندراب افتاده است

حبیب: د مأثر بلخ دخاوند په قول ، سیدحبیب الله دبلخ دسید حیدری عالیمقدارو ساداتو له جملی څخه یوتن وْ، په ۱۳ پیړۍ کښې ئې ژوندکاوه، ده سر بیره پر پیړۍ اومریدی شعر هم وایه دالاندی غزل دده بولی :

غزل

جدا زفکر جهان شو بذکر سبحان باش
گدای او شو وبر تخت فقر سلطان باش
به آب دیده بکن شستشو رخ خود را
زگریه های پیاپی چو ابر نیسان باش
زخوف سخت مرنجان دل ضعیفان را
بهر که مینگری همچو غنچه خندان باش
زخوف قوت حبیبا چه میشوی بیدل
بخنده جان بده ودر رضای سبحان باش

سردارغلام حیدر : غلام حیدر بن امیردوست محمدخان دوزیر اکبر خان ورور په ۱۲۳۳ هـ ق دنملی په باغ کښې زیږیدلی وْ ، ده عربی اوادبی علوم په کابل کښې له ملامحمداکرم خان باجوړی اوقاضی عبدالسلام خان لوګری څخه تحصیل کړی وْ . داشهزاده دشجاعت خاوند وْ؛ اوپه خیل ورور وزیرمحمداکبر خان باندې به ځې په اکثرو جګړو کښې وړاندې والی کاوه، ده شعری طبع هم درلوده اواشعار به ځې ویل، اودپخوانو داثارو له راغونډولو سره ځې ډیره مینه لرله .

دالاندی شوبیتو نه دده له یوی غزلې څخه را اخیستل شوی دی :

غزل

دوچشمت هرچه با این ناتوان کرد
لب لعلت تلافی میتوان کرد
بحمدالله که در پایان پیری
مرا مهر رخت از سر جوان کرد
چو شمع آتش گرفت اندر زبانش
حدیث عشق را هر کس بیان کرد
چه قانون کرد امشب ساز مطرب
که نی در ناله شد بربط فغان کرد
سرشك من میان مژدمان ریخت
مرا این طفل رسوای جهان کرد
روان شد سرو قدت تا ز چشمم
ز چشم چشمهای خون روان کرد
کنم تضمین حیدر نظم حافظ
خدارا با که این بازی توان کرد

## دافغانستان شاعرانې له لسمې پیړۍ څخه وروسته

له لسمې پیړۍ څخه تر ۱۳ هجری پیړۍ پورې پر ته له یوې شاعرې چه نوم ئی اقابیګم اوتخلص ئې آقا ئی وْ چه دمحمدخان شیبانی معاصره ده بله شاعره په افغانستان کښې نده

معلومه شوې . داشاعره (آغائی) دمهتر قرائی خان بن مهتر محمدخان شیبانی لورده داشاعره دښې طبعی او ښې قریحی خاونده وه، ددې دزېږېدنی او وفات نیټه لاس ته نده راغلی . دالاندې مطلع ددې ده .

زهوشیا ران عالم هر کرا دیدم غمی دارد
دلا دیوانه شو دیوانگی هم عالمی دارد

عائشهٔ افغان : عائشه دیوې پیاوړی شاعرې نوم او تخلص دی چه یودیوان هم لری نوموړی دافغانستان او دکابل دښاروه چه په ۱۳ هجری پیړۍ کښې ژوندکاوه. دادیعقوب علی خان بارکزائی لورده، عائشې دعلم اومعرفت په حاصلو لو کښې همت کړی دی اوپه ادبیاتو کښې ئې مهارت اوشهرت درلود، ددې اشعار دتیمور شاه در بارته ورسېدل نوشاه ددې ستاینه وکړه اوتشویق ئی کړه اوزیاتی جائیزې او صلی ئې ورو ښلې عائشه یودیوان لری چه پرقصیدو، غزلو، مثنوی، مخمس، رباعی، قطعه، ترجیع بند، او نورو باندې مشتمل دی، چه په ۱۳۰۵ ه کښې دامیرعبدالرحمن خان په امر په کابل کښې په ډېرینه طبع چاپ شوی اویوه نسخه ئې اوس هم شته . او کله چه دعائیشی زوی فیض طلب په۱۲۲۷ه کال دکشمیر په جګړه کښې شهیدشو نوعائیشه ډېره پرې خفه اومتأثره شوه ، نوځکه لهدې پېښې وروسته دعائیشی په اثارو کښې د غمجنتیا او حزن رنګ پیدا شوی دی . پخپله داهم د خپل زوی لهمرګ څخه اتهکاله وروسته په۱۲۳۵هجری کښې مړه شوه . ددې ټول اشعار دشپږو زرو بیتو پهشاوخوا کښې دی چه لویه برخه ئې غزلیات دی دالاندې غزل دنمونی په ډول ددې له دیوان څخه اقتباس شوې دی :

دحافظ شیرازی پهاستقبال

غ ز ل

بتان چو گلشن روی ترا نظاره کنم
زشوق برتن خود جامه پاره پاره کنم
اگر زحقهٔ لعل لب تو مې نوشم
بنه رواق فلك سیر چون ستاره کنم
بمهر روی بتان دل نه بستنم اولی است
شکیب نیست دلم را بگو چه چاره کنم
مرا که کنج خرابات خانقه شده است
چرا مذمت رند شرا بخواره کنم
امید مغفرتم از عطای غفرانست
اگرچه جرم وگناهان بی شماره کنم
گرفت دامن پیر مغان چو عائشه
شکسته فوج عدو را بیك اشاره کنم

محجوبه هیروی : محجوبه بنت سکندر خان نظام‌الدوله دهرات د۱۳ پیړۍ لهشاعرو څخه ده، علمئی حاصل کړی اوپه ادبیاتو کښې ماهره وه، محجوبه دعلیقلی صارمی خورور چه داحوالو شرحئی د۱۳ پیړۍ دشاعرانو په بیان کښې تیره شوه، صارمی دخپلی خوا په مرثیه کښې یوه غوره قصیده ویلی ده چه لهسلوبیتو څخه زیاته ده اوهغه ئی بحرالرد رر بللی ده . محجوبه په ۱۲٦٤ه ق کال کښې وفات شوی ده . ددې دالاندې غزل له پرده نشینان سخنگوی څخه اقتباس شوی دی:

غزل

رفیقان برلب آمدجان زهجران دلفگاری را
که میگوید به آن بیرحم حال جان سپاری را
نه ازبختم سر یاری، نه از دلدار غمخواری
بودمشکل به سر بردن بدین سان روزگاری را
تو ای صیاد یاد آور بقید افتادهٔ دامت
کشا ازمحنت هجران اسیر خسته زاری را
جفا ازحد فزون کردی بیا یکره وفا آموز
دوا کن درد افگاران مسوزان داغداری را
گذر کن جانب محجوب ای دلبر زیان نبود
اگر یاری بجا آری دل امیدواری را

مستوره غوری : دپرده نشینان سخنگوی خاوند لیکی چه «ددې نوم حورالنسأ او دمیر سیداعظم لور ده» دا په ۱۲۱۱ هجری شمسی کښې دغور د (برچمن) په کلی کښې زېږېدلی او دخپل عمر تر یا به په هغه ځای کښې اوسېدله،د(بی بی سفید پوش) په نوم ئې شهرت درلود، پخپله دادخیل خان په باب کښې داسی وائی :

نسب ازخواجهٔ زورم بودحور النسأ نامم
تخلص گشت مستوره بملك غور ما وایم

حورالنسأ دخپل ژوندانه تر یایه میړه و نه کړ اوپه ۱۲٤٥ هجری شمسی کښې وفات اوپه کوه زور کښې خښه شوه . دا شاعره د (تحفة العاشقین ومفرح المسلمین) په نوم یومکمل دیوان لری چهدرې نیم زره بیته دی .

د « پرده نشینان سخنگوی » په کتاب کښې دالاندې غزل ددې دکلام دنمونی په ډول قیدشوی دی :

غزل

دل عشاق گرد عارضت مستانه میر قصد
بلی چون شمع روشن شددوصد پروانه میرقصد
بهر جا پرتو نوری ز انوار خدا باشد
یکی درمسجد دیگر بی میخانه میرقصد
مگر نقاش دربتخانه زد نقش جمال تو
که ازشوق تو می بینم بت وبتخانه میرقصد
مرادیروزواعظاوعظ ترك عشق میفرمود
شکست امروزه پیمان برسر پیمانه میرقصد

دلم چون دام زلف‌ودانهٔ خال تو می بیند
زترس دام میلرزد ز شوق دانه میرقصد
مگر بادصبا از چین ز لفش نگهتی دارد
که بلبل‌در گلستان جغد درویرانه میرقصد
که‌باشد در پس پرده لوای دلبری دارا
زآوازش ببین مستوره را دیوانه میرقصد

شور : ددی نوم مریمه اوپه بی‌بی سنگی مشهوره وه دې پرمبی «شور» بیا «بیخود» وروسته بیا «سیفی» تخلص غوره کړی‌دی، دا په ۱۲۵۵ هـ کال په‌کابل کښې ز یښزیدلی ده، ددې پلار خواجه سنگی نومید، مریمه یودیوان‌هم لری چه ډېره برخه ئې هجویات دی . دالاندې دری بیتونه ددې دی :

گر نکیرو منکر آید پرسد احوال مرا
یامحمد گویم وگویا شود زبان من
دربغل گیرد مرا قبر ای خدا یا دستگیر
مثل مادر آن زمین مشفق شود برجان من
شورمسکین‌را ازخاك‌پای کملبا نت شمار
یامحمد گویم ورو شن شود ایمان من

مریم کنیزك : نوموړې په ۱۲۵۷ هـ کال دهرات په کرخ کښې زیښزیدلی اوپه ۱۳۰۸ کښې وفات شوې‌ده ، ددې‌نوم‌مریم بنت سیدعبدالله دی دا دښې طبعی‌خاونده وه اویو دیوان لری . دالاندی څو بیتونه ددې د کلام د نمونی په‌ډول ددې دیوی نعتیې څخه انتخاب شوی دی :

ای مهٔ جهان آرا معدن صفا هستی
بر گزیدهٔ خالق فخرا صفیا هستی
عین جملهٔ محبو بان فخر انبیا هستی
تو طبیب هر رنجی درد هر دواهستی
شمع بزم هرجمعی بسکه خوش لقا هستی
روزو شب بود دایم میل خاطرم سو یت
بسته جمع مشتاقان دل بتار هر مویت
رخ نمای تابینم آن جمال و گیسویت
بشنوم حدیثی چند زان دو لعل دل جو یت
نطق شکرین داری زانکه‌خوشنوا هستی
زلف‌ورخ نمایان کن‌بزم گلرخان بشکن
باتکلم شرین صوت بلبلان بشکن
ازحرم خلیل آسا رونق بتان بشکن
تاج لطف بر سرنه افسر شهان بشکن
چند ازنظر نایاب همچو کیمیا هستی

عاجزه : ددې نوم صنوبر او تخلص‌ئی عاجزه ؤ دا د « مریم کنیزك» خوروه دې‌هم‌ښه طبع‌لرله اودخپلی خورغوندې به‌ئې حمدیه او نعتیه اشعار ډیرویل دالاندې څو بیتونه ددې له‌یو نعتیه مخمس‌څخه اقتباس شوی‌دی .

ای‌شهٔ باسخای‌من دل شده مبتلای تو
طوطی‌طبع من کند،شام‌وسحر نوای‌تو
عمر عزیز را دهم ، در هوس لقای تو
محرم سر لامکان ، جان و دلم فدای تو
مرغ‌دلم باوج عرش ، پرزند ازهوای تو
وصف‌توچون بیان کند، سوختهٔ وصال‌تو
طوبی جنت است خجل، ازقد با کمال تو
جزغم عاصیان دگر ،هیچ نه در خیال تو
نورهمه جهان بود ، پرتوی از جمال تو
تابش ماه برفلك از شرف لقای تو
عمرعزیز شد تلف ،نیست مرا زخود خبر
روزجزا بمن‌بکن، ازسرلطف یکنظر
بنده بخانهٔ غمست، زارو ضعیف وچشم‌تر
ای‌مهٔ چهارده اثر ، خواجهٔ کل‌بحروبر
نعت‌تو گفته مختصر ، عاجزهٔ بینوای تو

آمنه فدوی: آمنه بنت سردارنورمحمد په ۱۲۷۶هـ ق‌په‌کابل کښې زیښزیدلی‌ده نوموړې دخپل فطری استعداد په اثر په‌لنډه موده کښې دعصرمروجه علوم تحصیل کړل او ښه لیاقت ئې څرګند کړ، په تفسیر اواحادیثو کښې ئې ښه مهارت حاصل کړ اوپه‌فارسی ادبیاتو کښې‌ئې هم‌لوړ مهارت درلود ، آمنې به په شعر کښې خپل‌تخلص فدوی کاوه نو موړی یوه عابده او پرهیز ګاره میرمن‌وه اوډوه ځلی کعبې شریفی‌ته دحج دپاره تللی ده په وروستی واړه بیت‌المقدس له‌ښار څخه دباندې‌دموټر دچپه کېدو په‌اثرو په۱۳۰۳یا۱۳۰٤هـکال کښې مړه‌شوه ، دې په‌شعر کښې‌ښه قریحه لرله اوښه اشعار به ئې ویل . دا لاندې غزل ددې دی :

غزل

تا نظر درچمن و ضع جهان واکردم
ستمی بود که بر دیدهٔ بینا کردم
نه‌چمن‌رنگ و فا داشت نه‌گل بوی بقا
حیرت آلوده بهر سو که تماشا کردم
شوخ چشمی‌چومگس کردم وبس شرمیدم
هر متاعی که از ین سفله تمنا کردم
گر به محشر زمن از حاصل دنیا پرسند
گویم‌افسوس همه خواهش بیجا کردم
ذرهٔ نیست بکف ز ین سفر دور و دراز
عفوخواهم زخدا آنچه خطاها کردم
فدوی بار خجالت بکشی روز جزا
زانکه در عالم فانی چه مهیا کردم

بیوجانه: ددې نوم حلیمه بنت میر عتیق الله او د میر واعظ کابلی له اولادې څخه وه په ۱۲۸۰ یا ۱۲۸۲ کال د کابل په بارانه کښې زیږیدلی ده دې په مختلفه علومو کښې برخه لرله، ادبیات ئې له هرچا څخه ښه زده وه په ۱۵ - یا ۱۶ کلنۍ امیر عبدالرحمن په نکاح واخیسته نوموړی امیر له دې خپلې بوه او زیرکی میرمنې سره بوه خاصه علاقه لرله اودائې ډیره دوسته لرله لکه چه له دې لاندې دوو بیتو څخه ئې په دغې په صفت کښې ئې ویلی دی دده محبت څرګند یدای شی :

مهد علیا صدر کبری بی بی عفت شیم
زآنکه ازعزت شهش خوانده علیا محترم
الحق ازمادر نزاده دختری همزاد او
صاحب حلم وحیا و مایهٔ جود وکرم

اوهره شپه به ئې دغو له اروېدو څخه خو ند آخیست دا په ۱۳۰۴ هجری شمسی کال په کابل کښې وفات شوې ده اودشهدای صالحین په مقبره کښې دحضرت تمیم انصاری دمزار ترشنګ خښه شوه دالاندې څو بیتونه ددې دی هغه و خت چه امیرعبدالرحمن دګل نرګس یوه ګیډی دې ته استولې وه هغې په عوض کښې دابیت ووایه اوور وئې لیږه :

بیت

نرګس صدبرګ ازدست شهنشاه هم رسید
بر سرخود ماندم و برچشم تر مالیدمش

داستقلال په باب کښې ئې دالاندې بیتونه ویلی دی :

| | |
|---|---|
| ازبرای خدا بلند کنید | برسر خود لوای استقلال |
| باد شیرین دهان ملت ما | یارب از میوه های استقلال |
| میکشم بعد ازین بدیدهٔ خود | سرمه از خاك پای استقلال |

یوشمیر نوری شاعری هم په افغانستان کښې تیری شوی دی خو چه دژوند وخت ئې معلوم نه دی نو د هغو داحوالو بیان موونه کړ یوالحی نومو نه ئې په لاندی ډول را وړو :

آغادوست، حیاتی، دل شاد، عاجزی، کنیز فاطمی، لطیفه، او نوري .

## دافغانستان داد بی سبك را گرخیدنه او شاعران ئې

پخوامو وویل چه هندی سبك د پارسی ادبیاتو په عالم کښې یوستر انقلاب پیدا کړ اودادب او شاعری په ډګر کښې دنوی تفکر دطرز او د لطیفو خیالاتو دانکشاف باعث شو او دجدی شوق راوستونکو او دعزم دخاوندانو په ذریعه مخ په تکامل ولاړ، دخراسان، ایران، او ماوراءالنهر شاعران ئې پوره تر تاثیر لاندی راوستل، په تیره دخراسان او ماوراءالنهر شاعران ډیر زیات دهمه تر تاثیر لاندی راغلل، لکه چه تر نن ورځی پوری پدی هیواد کښې زیات شاعران په هغه سبك شعروائی. په ایران کښې دصفویانو په دوره کښې په تیره په ۱۲ هـ ق پیړۍ کښې په ایران کښې دشعر دتیټ والی په اثر داصفهان اودهغه شاؤخوا یوه ډله شاعران پدې فکر کښې ولویدل چه دوهم وار بیا دپخوانیو سبك غوره اونوی کړی، ترڅوچه دغه انحطاط چه په شعر کښې پیداشوی دی بیرته له منځه لرې شی، دغې ډلې شاعرانو به اصفهان کښې یوه مرکه جوړه کړه اوددغې مفکورې درواج اوشایع کیدو دپاره ئې ملاوتړله مخصوصا میرسید علی مشتاق شیرازی (متوفی ۱۱۷۱) لطف علی بیګ، اذر بیګ دلی دآذرداتشکدی خاوند (۱۱۹۵) سیدمحمدشعله (متوفی ۱۱۶۰) طبیب اصفهانی (۱۱۶۸) میرزا محمدنصیر اصفهانی (۱۱۹۲) سید احمد هاتف (۱۱۹۸) صبا حی بیګ دلی (۱۲۰۷) طوفان، شهاب، صبا (متوفی ۱۲۳۸) اونورو هم پدی لاره کښې زیات کوشش وکړ، چه څو ددی ادبی بیرته په شاتللو مخه ونیسی اودپخوانو استاذانو اسلوب او سبك دو هم وار ژوندی کړی . دوی په غزلو ویلو کښې دعراقی سبك د معروفو شاعرانو په تیره دشیخ سعدی اوحافظ او په قصیدو کښې دسامانی او محمودی شاعرانو لکه رودکی، فروخی، عنصری، اونورو پیروی و کړه . خو په افغانستان کښې چه شاعران دهندی سبك له شروع کیدو څخه هغه ته ملتفت ؤ په تیره وروسته له بیدل څخه دهغه د مکتب پیرو او ورپسې روان ؤ، نوئې له دی موضوع سره لږه علاقه وښودله پرته له څوتنو څخه د ۱۳ پیړۍ په اواخرو او د ۱۴ پیړۍ په اولو وختو کښې لږشاعران دی چه دغه فکر ئې تعقیب کړی دی . دهغو شاعرانو له جملې څخه چه په عراقی او خراسانی سبك ئی اشعار ویلی دی ادیب پښوری اوشرر کابلی دی چه په خراسانی سبك اودپخوانو شاعرانو په پیروی ئې غوره او ښې قصیدی ویلی دی اودخراسانی سبك مړه دیوه ئی پدی هیواد کښې لږه روښانه کړیده، همدا ډول په هرات کښې دوو شاعرانو چه یو «مشوانی» اوبل «سیدمیر» نومیږی دپخوانیو په سبك ئی عالی قصائدویلی دی، لکه چه سید میر دخاقانی شیر وانی عینا اقتضاً کړی اودهغه نوم ئی دوهم ځل ژوندی کړی دی او دپخوانو استاذانو یادونه ئی په اذهانو کښې نوې کړی دی ، کوم سړی چه له وسع اوتوان نه ئی راغلی دی اوپه پوره بریا لیتوب او استاذی ئی په خپلو خوږو او غوره غزلو عراقی سبك دوهم ځل نوی کړی دی او د حضرت حافظ دخبروئی پوره پیروی کړی اوهغه ئې ژوندی کړی دی همد غه میرزا محمدنبی خان دبیر کابلی دی چه «واصل» ئی تخلص ؤ، واصل له پخوا څخه دا نظریه درلوده چه پخپلو اشعارو کښې په عراقی سبك پسې ولاړسی او پدی لار کښې ئی له حضرت حافظ څخه بل غوره لارښوونکی نه لید، لکه چه وائی :

غیر حافظ شاه اقلیم سخن
کس نگیرد ملك معنی زین قبیل

* * *

خامه‌ام هرچند واصل کلك استادان شکست
کلك حافظ میخراشد نوم اقلا مم هنوز

خودا ذوق او مفکوره دا واصل له مرینې سره سم یوځای له‌منځه ولاړل او ددغې لارې دشا عرانو تعقیب او پیری بیاچاونه کړه، نوله‌همدې امله دافغانستان شاعرانو تراوسه پورې دهندی سبك پیروی نده پریښې، چه‌په هغه ئی کلکی منګولی لګولی دی. خوپه‌دی حاضر وخت کښې لحینو محدودو شاعرانو اولیکوالو په‌خیل نظم اونثر کښې دبخوانو استاذانو پیروی‌نیولی‌ده اوداسی آثار ئی منځ ته راوړی‌دی‌چه‌د فروخی اوعنصری له اشعارو اودبیهقی او عروضی له نثر څخه یادونه کوی.

## دافغانستان د ١٤ پیړۍ شاعران

عبدالله : دبدخشان دپورتنی یفتل دزردالو دکلی‌دی اود ١٣ پیړۍ دآخرو وختواود ١٤ هـ ق پیړۍ داولو وختو له‌شاعرانو څخه‌دی. نوموړی عربی علوم‌تحصیل کړی‌وۀ اوپه آخرووختو کښې دقادریی طریقی، به‌مسلك کی‌داخل‌شوی‌وۀ، په ١٣٠٢هـ ق کال کښې وفات شوی‌دی. ده دشعر طبع لرله اوتصوفی اوښه اشعار به‌ئې ویل. دالاندې غزل دده د کلام نمونه ده :

### غزل

شکر لله مشت خاکی‌را معظم کرده‌ای
جان درو بخشیده‌ئی‌ونامش آدم کرده‌ای
هیچ اشیارا شرف بر آدمی ننهاده ئی
آدمی را بر همه اشیا مکرم کرده ای
بهر تشریف شهنشاه سریر هردو کون
تابمحشر قامت افلاك را خم کرده ای
امتی از امتان بهتر یمن کا ئنات
کلب دربار جناب غوث‌الاعظم کرده‌ای
نیست عبدالله مسکین رااز‌ین‌خوش‌دولتی
اسم‌پاکت برزبانش نیز همدم کرده‌ای

قاضی عبدالواحد صدر سریر : دده اصلی وطن بلخ اوپه ١٢٢٤ هـ ق کښې زیږیدلی‌اوپه بخارا کښې ئی تربیه موندلې ده. قاضی دعلم فقه، فلسفی، تصوف‌اوعربی عالم وۀ، نوموړی دخپلو علمی مرانبو له‌کبله په ماوراءالنهر کښې ښه عزت او احترام درلود، دی‌یوفقیر مشربه، دښې طبع خاوند اوجوادسړی‌وۀ په‌نثر اونظم کښې‌ئی پوره قدرت درلود اوښه‌آثارئی‌یاد ګار پریښې‌دی، سربیره پراشعارو منشأت اومکتوبات هم‌لری، دی په ١٣٠٣ کال په‌ماوراء النهر کښې وفات شوی دی دی په‌شعر کښې‌دبیدل پیروۀ. دالاندې غزل دده دکلام نمونه‌ده :

### غزل

عکس‌رویت کرده گلشن‌دستگاه آئینه را
هم برین معنی‌برم پیشت گواه آئینه را
غیر استقبال‌نازت نیست سامان غرور
اندکی در جلوه آ بشکن کلاه آئینه را
گر کنم باجلوۀ طاقت گذارت رو برو
میشود جوهر زبان عذر خواه آئینه را
بر خسوف‌مه‌سبب جزدوری خورشید نیست
برسر افتد بی رخت روز سیاه آئینه را
یك‌قلم مضمون‌نیرنگ‌خطت فهمیدنی است
کرده اینجا جوهر آب زیر کاه آئینه را
طبع غمازت هماو درزیر کلفت بهتر است
زنگ شد در عیب جوئی سدراه آئینه را
نیست جنس خودپسندی باب ارباب کمال
یوسفی دارم که داند قعر چاه آئینه را
جلوه‌مشتاق‌است حسن‌اوچه‌سازد کس‌صریر
ورنه میکردم سیاه ازدود آه آئینه را

عیسی بلخی : دده‌نوم محمدعیسی دبلخی محمدنیاز زوی‌دی، دده پلار بخاراته ولاړ اوعیسی په ١٢٤٢ هـ ق کال هلته‌وزېږید اود پلار تر پاملرنې لاندې‌ئی‌خپل تحصیلات پای ته‌ورسول‌اوپر تدریس بوخت شو.

ده په‌شعر اوادب، عربی علومو، خطا طی، طلاکاری، (تذهیب)، میناتوری، اوموسیقی کښې ښه مهارت درلود اود لیکلو اوتدریس له‌لارې ئی‌خپله‌زندګی تامینو له حج ته ولاړ بیا بیرته بخارا راته راغی عیسی هم دمیر زا بیدل پیروی کوله اوښه اشعار ئی دهغه په سبك ویلی دی او دبیدل‌لحینی‌مشکل‌بیتونه‌ئې په‌مصنع اوروان‌نثرسره‌شرح کړی‌دی. دی‌په ١٣٠٥هـ ق کښې‌وفات‌شوی.ی‌دالاندې‌غزل‌دده‌د کلام‌نمونه‌ده:

### غزل

باز از پیمانۀ پیمانی بقلقل بسته ام
رنگ عیشی در هوای ساغر مل‌بسته‌ام
نا کسیها بین که‌درهنگامۀ‌عرض‌ونیاز
بر عدم هم زحمت بار تنزل بسته ام
عضو عضوم‌زین‌چمن گلچین‌چندین‌ناله‌است
تهمت فریاد بر منقار بلبل بسته ام
خاك‌هم گشته‌همان گردسرت گردنده‌ام
یعنی ازاین دورمضمون تسلسل بسته‌ام
محرم ساز ادب جرأت‌فروش ناله‌است
ای نفس‌خون‌شو که‌رنگی‌در تامل‌بسته‌ام

خود فروشان د رلباس فخر میناز ندومن
این قدردانم که بر پشت خری جل بسته‌ام
درحریم حسن ربط چاك دل امروز نیست
از ازل این شانه‌را برعقد کاکل بسته‌ام
نیست عیسی جلوهٔ منظور اسباب دلم
یکقلم زین رنگها چشم تغافل بسته‌ام

عاشق : دده نوم عبد الرحمن بن ملا ابو بکر سلیم بن ملا مولاداد هیروی دی . د۱۳ پیړۍ په منځنیو وختو کښې ژوند یدلی دی ، په شعر اوادبیاتو کښې لوړ مقام ته رسیدلی ؤ په غزلو ار قصیدو کښې ئې پوره مهارت درلوداود نظم اقسام ئې خوراښه ویل. به۱۳۰۷ه ق کښې به هرات کښې وفات شوی دی: دالاندی غزل دده دی:

غزل

آن پری رو که برو پردهٔ نازی دارد
عین خوبی است که مژگان دزازی دارد
دل کبوتر صفتش صید شود کان شهٔ حسن
مژهٔ گیرندهٔ تر از چنگل بازی دارد
نازز یباست بان حور پری رو که مدام
جان ابرار بر آن ناز نیازی دارد
فتوی عشق چوجو یاشدم ازمفتی شرع
گفت اگر طبع وهوانیست جوازی دارد
نزدعارف به حقیقت بخدا پیوسته است
هر که باروی بتی عشق مجازی دارد
زاهد خام طمع پی نبرد با مقصود
خالی از صدق دل زرق طرازی دارد
هست شایستهٔ ایمان حقیقی عاشق
که بابروی تو پیوسته نمازی دارد

حمیدی بلخی: دده نوم عبدالحمید اوتخلص ئې «حمیدی» دی دمأثر بلخ خاوندوائی چه دی په اصل کښې دخلم دی اودماوراءالنهر خواته تللی هلته ئې عربی مروجه کتابونه ولوستل بیا بیرته وطن ته راغی اوپه تدریس بوخت شو او دهغه له مفاد څخه ئې خپله زندگی تامینوله ، په شعر کښې ئې لاس لاره اودمیرزا بیدل پیروی ئې کوله . په۱۲۰۸ه ق کښې و فات شوی دی . دالاندې څو بیتونه دده دی :

غزل

عتاب چین جبینت مرا زجان شیرین
مپیچ دامن گیسو ز من بحالم بین
طراوت خط سبزت بنو بهار امید
رواج ورونق ریحان وسنبل ونسرین
امیر کشورحسن ترامبارك باد
سپاه غمزه ونازو کرشمه وتمکین

دتذکرهٔ افضل خاوند په همدغه عصر کښې یوبل شاعر په عین همدغه نوم اوتخلص په بلخ کښې معرفی کوی او وائی ( چه دعلم دتحصیل دپاره شهر سبزته راغلی او په هغه ځای کښې استو ګنه غوره کړی اومتاهل شوی دی ،دنستعلیق په خط کښې ئې مهارت درلود اود کتابو دلیکنې په واسطه ئې خیل ژوند کاوه اودده اشعار ستائی اودالاندې غزل ئې دده کلام دنمونی په ډول لیکلی دی :

غزل

نیست بیش تابش روی تو تاب آفتاب
روز کی آید برون خفاش از زیر حجاب
یك سخن گراز لب لعلش بهر مجلس رود
سرنگون گردد صراحی آتش افتد در شراب
از تمنای بنا گوش تو هر شام وسحر
میرود بر گرد کویت ماه باصد اضطراب
زلفت از باد صبا هر گه عبیر انشان شود
خون شود در ناف آهو از خجالت مشك ناب
چاك زد جیب دلم جانم بخاك وخون سرشت
ناوك ناز نگاه چشم مست نیم خواب
آنقدر نالیدم از جوش فراق عارضت
چرخ بر در یای اشکم گشت مانند حباب
نشنوی داد حمیدی راو مجروحش کنی
دفتر درد وغمت هرچند سازد فصل و باب

خان ملاخان : دقاضی داملا محمد نظیف بدخشانی زوی دی په علم فقهه . احادیثو عقائدو منطق ، تفسیر ، صرف ، نحو اونورو کښې ئې نه قدرت درلود په خطاطی کښې هم ماهرؤ دده شعراو شاعری دده دضمنی فضائلو څخه وه لکه چه دده علمی شهرت دده ادبی مقام ترخیل تاثیر لاندې راوستلی ؤ .

دی دامیر عبدالرحمن په زمانه کښې دبدخشان قاضی ؤ په۱۳۰۹ه ق کښې وفات شوی دی . دالاندې څو بیتونه دده له (اصول دل) نومی منظومی څخه انتخاب شول :

اصول دل

اصول دل برادر هشت قسم است
بگویم باتو هریك را چه اسم است
بیان سازم بر نگ استعمارت
ز اقسامش بگویم این عبارت
که قسم اول این یار عزیز است
بلاغت مظهر وصاحب تمیز است
دوم باشد رفیق نیك آئین
که باشد مدح نامش نصرة الدین
سوم کاشانهٔ خالی ز اغیار
رقیبانم نه در بیند نه دیوار

چهارم د ر میانه شمع کافور
رخ مه را فزاید پر تو نور
مقام پنجمین شطر نج وطنبور
رباب خو شنوا قانون خوش جور
ششم دیوان بیدل دو میانه
زنی بر موی معنی هاش شانه
مقام هفتمین انواع ما کول
زهر قسمیکه در طبع است مقبول
بهشتم قسم دیدم این روایات
زد نیای دنی کردن شکایات

شامل : سید محمد محسن بن میرحسین په (شامل) متخلص دکابل دساداتو له جملی څخه وو . په ۱۲۳۸ه ق کال دکابل په بالا حصار کښې زیږیدلی دی دخپل پلار په مړسته ئې دهغه وخت مروجه علوم پای ته و رسول اوبه شعر او ادب کښې ئی هم مهارت پیدا کړ او دخپل وخت له مشهورو شاعرانو څخه شو، شامل څه‌موده د حکومت په‌رسمی چارو بوخت وو، چه‌له (۱۳۰۵) څخه وروسته دعمو می سنجش ددفترمدیر وو، خودناروغتیاله کبله‌ئې‌خپله‌رسمی وظیفه پرېښودله. ده په‌شعرویلو کښې ځانته ذوق اویوه خاصه صلیقه لرله، دی دوه دیوانونه لری چه‌دده له‌وارثانو سره اوس‌هم شته یودیوان ئی چه پرغزلیاتو، مخمساتو، قطعاتو، رباعیاتو، او ترجیعاتو مشتمل‌دی اودابل دیوان ئی قصائد دی . په ۱۳۰۹ ه‌ق کښې وفات‌شوی‌دې دالاندې‌غزل دده دی :

غزل

کوچون‌رخ زیبایت، یك‌گل به گلستا نها
کو چون قدر عنایت، یکسر و به بستانها
دی باد به گلشن برد، از پیر هنت بو ئی
گردند زغیرت چاك، گلها همه دا منها
باشد چو مرا درسر، کش سر بنهم بردر
سهل است ببینم گر، صد جور ز دربا نها
دردی که بود ازتو، در مانش نمی خوا هم
کان دردمرا خوشتر ، است ازهمه در مانها
زان عمزهٔ تیرافگن، شامل بنگر کزوی
هر لحظه همی‌آید ، برسینه چه پیکانها

واصل کابلی : میرزا محمدنبی‌خان بن‌میرزا محمدهاشم‌خان په دبیرالملك ملقب او تخلص ئې «واصل» وو دی دپارسی ژبی له‌لوړو شاعرانو څخه دی . د۱۲٤٤ ه‌ق په‌خواوشاکښې په‌کابل کښې زیږیدلی دی، ړومبنی تعلیمات ئې د کابل په مرادخانیو کښې له‌ملارحم‌دل‌خان مدرس څخه زده کړی‌دی ، او دمیرزا محمدمحسن‌خان دبیر په کو مك اوهمکاری دلائیقو منشیانو په ډله کښې‌ئې ځای ونیو . ورو سته بیامیرزا محمد محسن خان په‌معانی‌چه دروس‌سفیر وو مقرر شو اودامیر شیرعلی‌خان دزمانی تر پایه په(۱۲۹٦ ه ق) په‌دغه وظیفه پاته وو ، تر څو چه دامیر عبدالرحمن په‌وخت کښې بیرته کابل ته راغی او امیردی خپل دبیرو تاکه اودخپل ژوندانه تر پایه ئې دغه وظیفه درلوده . د۱۳۰۹ ه‌ق دشوال په میاشت کښې مړشو . واصل په ادبیاتو کښې ښه اقتدار درلود غزلی، قصیدی، قطعی، رباعی ، ترجیع بند، اونور داسی اشعارئی په‌ښه استادی ویل . په شعر کښې دواصل سبك‌عراقی معروف سبك وو اودحافظ پیروی‌ئې کړیده ، واصل یودیوان لری اوپه نثر کښې هم یو کتاب لری ، چه دامیر شیرعلی‌خان‌دژوندانه روزنامچه‌ده. دالاندې‌غزل دده‌دی:

غزل

ساقی بیاکه باز بر اورنگ خسروی
گل جلوه داد حسن کمالات معنوی
بلبل ترانه ساخت بر او ر نگ بار بد
سر کرد عا شقانهٔ غزلهای پهلوی
می ده برنگ آتش موسی که هرطرف
شد از دم بنفشه روان باد عیسوی
پهلو زند به سینهٔ سینا دل چمن
از بسکه در گرفته درو نار موسوی
باد بهار ز آتش هرگل که برفروخت
بر خاك ر یخت آب رخ نقش ما نوی
فصلی چنین که لا له بصحرا کشید رخت
حیف است ای‌جوان تو باکا شانهٔ منزوی
بگذر بطرف باغ که مرغان راست گوی
خوش میزنند راه مقا مات معنو ی
می خور بصوت فا خته امشب که صبحدم
از عند لیب این چمن آوا ز نشنوی
ای سرو نو بر آمده، این سر کشی چرا
چون یکدو روز دیگر ازین باغ میروی
گرجم شوی به حشمت ودارا به کبرو ناز
آخر به تخته جا کنی از تخت خسروی
پاداش نیك نیك ومکا فات بدبد است
دیروز هرچه کشته ای امروز بد روی
شیخان شهر ما همه ار باب نخو تند
هان ای پسر بظاهر این قوم نگروی
شکر خدا که دلق می آلود پیر ما
از مال وقف نیست چو دستار مولوی

( واصل کابلی‌دې‌وکتل‌شی)

شاهین دروازی : شمس‌الدین شاهین بن ملا محمد امان دبدخشان ددروازدی، په ۱۲۷۶ هـ ق کال په بخارا کښې زېږېدلی دی . دشاهین پلار ملا محمد امان دتحصیل دپاره له وطن څخه بخارا ته تللی اوهلته ئی استوګنه غوره کړی وه .

شاهین هم دخپل پلار په‌توجه او یا ملر نه سره یو ګړه عالم‌شو، شاهین دما وراءالنهر په فکری او اجتماعی تحولاتو کښې ښه برخه درلوده چه عالمانه تبلیغات ئې کړی او محرک اوزیات انتقادی اشعار به ئې لیکل چه‌خوخلك بیدارشی ، دی‌دامیر عبدالاحمدخان ندیم مقرر شوخوپخپله‌دی خوښ نه‌ؤ نوځکه ئې له دربارڅخه لری‌والی‌غوره کړ.هغه‌اثار چه‌شاهین په‌نظم او نثر کښې لیکلی‌دی ډیرلوی اوګرځ‌دی ، یو کتاب ئې چه«بدایع‌الصنایع» نومیزی سرتړپایه انتقادی اوپه‌ډیر منشیانه نثر سره‌ئې لیکلی دی‌بل‌ئې‌لیلی‌ومجنون هم‌دخپلی ښځی دوفات‌په‌باب کښې‌لیکلی‌دی اودتحفهٔ دوستان په نوم هم یوه انتقادی منظومه لری چه نده بشپړه شوې .

په۱۳۱۱هـ ق کښې وفات شوی دی دالاندی‌غزل دده دی :

غزل

دلې‌سرشته بدردی که غمګسار من است
گرم‌غمی رسد از دهر غمګسار من است

دلی که ګم شده هرګز نیافتم خبر ش
مګر صبا بخ م طرهٔ نګار من است

بګفتش که بخو نم روایتی داری
بګفت خط غباری که‌در کنارمن است

بباد کوی توبګذشتی زباغ وبهار
که‌سیر کوی توهم باغ وهم‌بهار من‌است

سوادشعر که‌کردم بیاد ګار قلم
بروی‌دهر بماند که یادګار من‌است

هرآنکه یافت پروبال معنی شاهین
اګر تبارك گردون‌رسدشکار من‌است

دروازی: دده‌نوم محمدسعیدبیګ بن میر حاکم بیګ بن‌میرزانیك انجام‌دبدخشان ددروازدی دده تخلص (دروازی) دی‌په۱۲۴۷هـ کال زېږېدلی‌دی ،دروازی دبدخشان د ۱۴ پیړۍ له‌شاعرانوڅخه‌دی ده‌خپل‌ابتدائی تحصیلات په بدخشان کښې کړی‌دی اودلوړوتحصیلاتودپاره فرغانی‌ته ولاړ هلته ئې خپل نورتحصیلات بشپړ کړل دی په۱۳۱۰هـ ق کال په ۶۳ کلنۍ عمروفات شودی‌یو مرتب‌دیوان‌لری خودبېښوپه‌اثر له منځه تللی دی اوسره‌له‌هغه‌ئې هم ډیر اشعار پیدا .کیږی دالاندې غزل چه دمیرزا بیدل په‌تتبع ئې‌ویلی‌دی‌دده‌دی :

غزل

چه‌لازم‌تیغ بیدادی به‌قصد قتل مابندی
زخون‌بیګناهان دست خودرا درحنا بندی

هلال ازطاق‌ابروی تو طوق بندګی دارد
غباروسمه را تاکی بطاق کسبر یا بندی

مراشوردوعالم ازهمان‌چاك گریبان است
نباشد شرط انصاف ای‌پری بند قبابندی

دلادست‌امیدت راتو ازخوان‌شهان برچین
چه‌لازم‌چشم براسباب کچکول‌گدا بندی

بیاباخستګان کوی‌خودای‌شوخ احسان کن
تومضراب هوس تاچند بر تار هوا بندی

نباشدحسن خوبان رابقادر واز ها بګسل
بمقصد میرسی ایدل اګردل باخدا بندی

اسیر: دده‌نوم‌شاه عبدالغیاث بن یوسف‌علی‌خان اوتخلص (اسیر)دی‌نوموړی دبدخشان دشغنان له‌ستروا‌شخاصو څخه ؤدی دعلم‌خاوند اوپه ادبیاتو کښې ئی هم مهارت در لود ،دی دامیر عبدالرحمن په‌زمانه کښې دلحینونورو اشخاصو په ډله کښې دنظربندپه‌ډول کابل‌ته‌راوستل‌شو اوبیاماوراءالنهرته تبعیدشو څه‌موده‌وروسته بیادشغنان ، روشان‌ته‌بیرته‌راغی اوپه ۱۳۱۰ هـ ق کال په‌هغه ځای کښې وفات شودالاندې غزل دده دی :ـ

غزل

کسیکه دیده رخ وعارض نکوی ترا
زسر بیرون نکند یادآر زوی ترا

بجا ن خرند عزیزان بوستا ن در با غ
نسیم اګر بر باید عبیر کوی ترا

برید نو ك زبا ن بنفشه را بلبل
چود اشت همسر ی ز لف مشکبوی ترا

زخاك عظم ر میم بجسم وجان خیزد
صبا اګر برسانـد غبار کو ی ترا

به‌نیم‌حبه چوقدر سخن شنا سان نیست
بهـرزه چند بریزند آ بروی تـرا

اسیر اګربدګر شهر این غزل گوئی
بآب زر بنو یسنـد گفتـگوی تـرا

احمد: احمد علی‌شاه قند هاری چه تخلص ئې «احمـد» ؤ دې۱۴ پیړۍ له‌فضلاؤڅخه ؤ ده دامیردوست محمد په ز مانه کښې تدریس کاوه وروسته بیاکابل ته راغی ، او دچستیه طریقـی په‌مسلك کښې‌داخل‌شو اوهندوستان‌ته ولاړ ، په۱۳۱۱ هـ ق کال په‌پښور کښې وفات‌شو ، دی‌یوداشعارو دیوان لری چه دده یو مرید چه‌نظام‌الدین نومید تدوین کړی دی ، دده اشعار خورا پاخه‌اومتین‌دی . دالاندې‌غزل دده دکلام نمونه‌ده :

دائرة‌المعارف ۵۰۰ جلد

غزل

دریدی پرده ام رای نگار پرده دار آخر
زرسوائی مرا باسنگ طفلان شد دچار آخر
غزال آساسوی گلزار هستی میخرامیدم
بره دردام صیاد عدم گشتم شکار آخر
زروی درد دامانش بچنگ آوردم و گفتم
زاول خوب دانستم که نبود اختیار آخر
چرا نامردمی دارد بما این مردم چشمم
زتخم اشك خونین دامنم شدلاله زار آخر
بگرداب تحیر ناخدای شوق را گفتم
که دریای فنارا هیچ میدانی کنار آخر
زپای همت افتادم براه جستجو هایش
درین میدان براق عشق را گشتم سوار آخر
مراد زعشق باتو عندلیبا نسبتی نبود
بکام اژدرم نالی چرا از نیش خار آخر
زتو گویم زبان تابا تکلم آشنا باشد
یقین دانم که خاموشی بودمارا کنار آخر
بعالم احمداجنس درستی راخریدارند
ترادرعشق بازیها شکست آمد بکار آخر

سید فاضل غمگین : سیدفاضل دسیدبرهان الدین خان زوی دمیمنی دشاعرانو اوعلماؤ لهجملی څخه یوتن دی ، ده دعلم له تحصیل څخه وروسته تعلیم اوتدریس کاوه ،وروسته بیاقاضی شو، ده دشعر طبع هم لرله اوخوازه ابیات به ئې ویل . په ۱۳۱۵ ه ق کال کښې وفات شوی دی . دالاندې غزل دده دی :

غزل

یار را در کنار می بینم — قلب را بیقرار می بینم
وصف گل پیش عارضش چکنم — گل به پیشش چوخار می بینم
آفتاب رخش کند چوطلوع — شمس را در غبار می بینم
فصل گل اندك و ولی دایم — دررخش لاله زار می بینم
نازنینا چه پرسی از غمگین — درد مند و نزار می بینم

سیرة : دده نوم ابو الفضل اوپه خلم کښې ز پزیدلی دی ، نوموړی دعلم دتحصیل د پاره ماوراءالنهر ته ولاړ اودعربی او فارسی ، معتبر اومهم کتابونه ئې هلته ولوستل اوبنه نوم ئې پیدا کړ اوبه نقشبندیه طریقه کښې داخل شو او یو کامل پیر ورڅخه جوړشو. چې خلکو به هروخت دده له فیض څخه استفاده کوله . سیرة به ۱۲٤٦ ه کال زیږیدلی اوپه ۱۳۱٦ ه ق کال په ۸۰ کلنۍ عمروفات شوی دی . ده په شعر کښې لوړه رتبه لرله. دالاندې غزل دده دکلام نمونه ده :

غزل

تیرت گذشت ازدل ورنگ شباب ریخت
حیرت زدل برآئینه د یده آب ریخت
خال سیاه، زمنشی صنع از کتاب حسن
بربیت ابر ویت نقط انتخاب ریخت
تیغت چه برق داشت که درمعرض خیال
تا بگذرد زصید توخون کباب ریخت
درجام بی ادب می فیض قبول نیست
برروی بحر تادود آب حیات ریخت
عشرت شکار کردهٔ دام فرو تنی است
تسلیم سایه در بغلش آفتاب ریخت
از چشم بسته در برخ دل کشوده اند
باید بنای دیده بطوفان خواب ریخت
نرمی بطبع صافدلان حسن دیگر است
طاوس جلوه است چوروغن در آب ریخت
کردم زلعل او طلب بوسه در خیال
ازشرم یك جهان عرق اندرجواب ریخت
ننگ سخاست چین جبین سیرت از کریم
موج محیط دردل من پیچ وتاب ریخت

میرزا : دده نوم عبدالسلام اواصلا دبلخ ؤ ، دامیرعبدالرحمن په زمانه کښې ئې د تجارت دپاره ماوراء النهر ته تګ اوراتګ، درلود ، دی دښه ذوق اوښې قریحی خاوند ؤ او ډیر اشعار ئې وبلی دی . په ۱۳۱۵ق کال په فرغانه کښې وفات شوی دی . دماثر بلخ خاوند دالاندې غزل دده به نوم ثبت کړی دی .

غزل

ماسر خوشان نرگس شهلای او ستیم
ما چا کران حضرت والای او ستیم
ازبدو هست خویش الی مدة الحیات
ناچشم باز شد بتما شای او ستیم
در هر چمن برای گلی پر فشانده ایم
در زیر سایهٔ قد رعنای او ستیم
ازپر تو خیال رخش مست گشته ایم
جان داده ایم ودل به تمنای او ستیم
میرزا بگوی دوست تو تنها خرام کن
خو رشید وار مر حله پیمای او ستیم

یاری : میرزا درویش یاری دمزار دچغدك ؤ، دتحصیل دپاره بخارا ته تللی ؤ، ده دشعر طبع لرله ده کور دشاعرا و اوفاضلانو دټولنی ځای ؤ په ۱۳۱۵ق کال وفات شوی دی . دالاندې دوه بیته دده دکلام نمونه ده :

فرد

لب لعل تراوقت سخن این چار محرم شد
شعاع خو ر ،نثار درشق غنچه می‌صهبا

☆ ☆ ☆

فتنه‌هامی‌جوشد ازاطوار تحریك نگاه
زاهدانرا گوشهٔ ابروش رسوا کردنی است

احمدخان : احمدخان دامیر دوست محمد زوی ؤ داشهزاده په۱۲۴۵ه ق کال زیږیدلی‌دی ده‌دخپل‌عصر مروج علوم‌ویلی‌ؤ اوله‌ادب اوادبیاتوسره ئې ښه‌علاقه‌لرله اوهم په ئې ښه خوازه اشعارویل اوپدغه لار کښې ئې ښه مهارت پیداکړی اویو لوی شاعرشو ، لکه چه سربیره داشعاروپربودیوان نوری کوچینی منظومی رسالی هم‌اری چه د « گلشن حیرت » او « گلشن مجددی» به‌نامه شهرت لری‌چه‌دحضرت پیغمبر(ص) به شمائلواو نقشبندیه سلسلې به‌منقبت کښې‌دی .دی‌په۱۳۳۱۵ق کال د پښور په‌ښار کښې وفات شوی‌دی . دالاندې غزل‌دده‌دی .

غز ل

مسلسل زلف مشکین برعذار یار می‌پیچد
بلی بیوسته در مهتاب باهم مار می پیچد
جنون تاز سرآن زلف کافر ماجرا هردم
بد ون از خویشتن‌درحلقهٔ زنار می پیچد
هوس انشای غفلت هر نفس ازخام کاریها
ز پیچیدن بسو دای سرو دستار می‌پیچد
خیال نر گس بیمار مردم فتنه آشو بی
تمام روزو شب بااین دل بیمار می پیچد
چومنصور هر که‌شد سرمست‌جام بادهٔ وحدت
دمادم چون رسن خود را به پایدار می پیچد
زرشك پیچ وتاب آن سر زلف عبیر افشان
بخود تاروز محشر نافهٔ تاتار می پیچد
بذوق روزو شب گردیدن آن فرد زیبائی
دل سر گشته‌ام سرگشته چون‌پرکار می‌پیچد
درین شهر فناکس را مجال‌خودّ سری نبود
بستان محتسب نا حق سر بازار می پیچد
سخن ای مدارس د ببا چهٔ آشفته وضعیها
چولفظ احمد بفکر معنی اسرا ر می پیچد

طرزی‌افغان : دده‌نوم غلام‌محمد درحم‌دل‌خان زوی اوتخلص ئې (طرزی) ؤ، په۱۲۴۵ ه ق کال‌دقندهار په‌ښار کښې زیږیدلی دی . ابتدائی تعلیمات ئې له‌خپل پلار او ادبیات ئې له‌خپل کاکا مهردل شخه تحصیل کړی ؤ ، ده دامیر دوست محمد اوامیر محمداعظم اوامیر محمد افضل په‌دربار کښې احترام اوښه‌عزت درلود، دی د امیرعبدالرحمن په‌زمانه کښې له‌دری میاشتی بند شخه وروسته د هندوستان ته فرار کړ شو، اوبیا ۱۳۰۳ه کال بغدادته ولاړ اوپه ۱۳۰۴ ه کال دحج دپاره کعبی شوې‌ئې ته ولاړ . ده د(اخلاق حمیدی) په‌نوم یو کتاب دسلطان عبدالحمید خان په‌نامه تصنیف کړی‌دی . طرزی دنظم په مختلفو انواعو کښې ښه‌مهارت درلود اویودیوان هم‌لری چه ۴۰ زره بیته دی اوپه۱۳۱۸ه کال په کراچی کښې‌چاپ‌شوی‌دی . طرزی په۱۳۱۸ ه ق کال په‌شام کښې وفات‌شودالاندې‌غزل دده د کلام نمونه ده :

غـز ل

نوك کلك بهزادم ، نقش بی بدل دارم
در سخن طرازی ها نقش لـم یزل دارم
میکنم بسر هرشب، قطع منزل شوقش
همچوشمع درراهش، گرچه‌پای شل دارم
دایما گرفتا رم ، در خمـار مهجـو ری
گرچه چون حباب می، شیشه دربغل دارم
چون زبهر دشنامم، لعل شکرین بکشود
گفت‌کام اگر خواهی، زهر درعسل دارم
همچو زاهدان شهر، جزریا ندارم کار
ظاهری چوگل رنگین، باطنی دغل‌دارم
بسته ام زبی مغزی ، چون حباب دستاری
چون فقیه این دوران، علم بی عمل دارم
بحر معنیم طرزی ، همچو بیدل اندرشعر
مصرعی اگرخواهم ، سر کنم غزل دارم
(طرزی دې‌وکتل شی )

قرضی : دده نوم‌حاجی میراحمداوبه «گرانشنو» مشهور ؤ، دی د۱۴ هجری پیړۍ له‌شعرا ؤ اومشهورو خطاطانو څخه ؤ دی په تدریس مشغول ؤ دده شعر ډیر سلیس او روان دی، په ۱۳۱۹ ه ق کال وفات شوی‌دی . دالاندې غزل دده د کلام نمونه ده :

غـزل

آمد آنروز که گویم بتو دوران تو کو
بـا رقیبـان د غـا خلـوت پنهـان تو کـو
تیر بر تیر کـزان غمزه بـدل هـا میزد
ای کمـان دارچه شدناوك‌ومژگـان‌تو کو
طاعت وعلم وعمل در عوضش بـاغ جنان
اینهمه مزد بود بخشش واحسـان تو کو
دل جمعی که‌پریشان شدهٔ زلف تـو بود
میروی فرد کنون جمع پریشان تو کو
محو گردیم بیـکبـار چه خـواهی گـفتن
گر بیر سند که آن قرضی حیران تو کو

میرزا محمدجان‌خان : د میرزاسعید احمدخان زوی په۱۲۴۷ هـ ق کابل کښې زیږیدلی دی، ده د تحصیل له پوره کولو څخه وروسته دحکومت په‌رسمی چارو کښې شغل در لود چه دامیر شیرعلی‌خان اوعبدالرحمن خان په‌زمانه کښې ټې لوړې وظیفی درلودې . دی په‌خطاطی کښې‌ماهر او زیات اثارئی په‌خپل‌قلم لیکلی‌دی . ده په‌شعر کښې هم ښه‌قدرت درلود ، په ۱۳۱۸هـ ق کال وفات شوی دی .

دالاندې څو بیتونه ده له‌هغې قصیدې څخه اقتباس شوی‌دی چه دامیر شیرعلی خان دزوی شهزاده عبدالله‌خان د و لیعهدی په‌جشن کښې ټې ویلی ده :

شکر لله ازین محفل عشرت بنیان
که مرتب شده در خدمت شاه دوران
شاه فرخ رخ، جم‌جاه ، همایون طالع
معدلت پرور دا را فرا سکندر شان
عهد او بسکه بود مایهٔ آرام وقرار
بیقراری نشود نیز ز سیماب عیان
آنکه کرده بوطن‌مستری خانه تاسیس
آنکه‌فرموده درآن جمع‌همه پیشه‌وران
آنکه‌شد ساخته‌دردورهٔ‌او توپ وتفنگ
با گلوله و پتاقی بوطن بی پایان
آنکه درعهدخوشش فوجی‌لایق داریم
جمله بارعب ومسلح‌همه‌چون شیر ژیان

غمگین : میرمحمد شاه غمگین بن میرمحمود شاه‌خان عاجز دبدخشان‌دی، نوموړی دبدخشان له‌یوې‌علمی‌اوفاضلی کورنۍ څخه دی، ده دعصر مروج علوم له‌خپل پلار څخه تحصیل کړی دی، اوله خپلې عائلې سره د امیر عبدالرحمن له‌خوا قندهار ته‌فرار شوی‌دی ، دی‌داشعارویودیوان لري‌چه‌دغوره مرغلرویوصندوق ګنډل کیدای شی، خودالله‌کولو په واسطه له منځه تللی دی . دی په ۱۳۲۰هـ ق کال کښې په قندهار کښې مړشو . دالاندی غزل دده‌دی :

غزل

تابود مظهر وصف تو کلام دل ما
لوح محفوظ بود سر خط نام دل ما
لب نیار دبهم از خندهٔ شادی هر گز
هر که چون‌داغ خورد باده زجام‌دل‌ما
آرزو ها بمیان من و تو بود و لی
چرخ بدمهر نگر دید بکام دل ما
وقف یك آبله‌صد کعبه ودیراست اینجا
رهروی کو که رسد تابمقابل دل ما
همچو گل سینهٔ صدچاك ز گلشن رفتم
بحر یفان برسانید سلام دل ما
رخ بخوناب جگرشسته چوایام بهار
بگلستان که رساند ست پیام دل ما
یاد آنروز که‌درمجمع یاران (غمگین)
بود رو زی دل او هم بمرام دل‌ما

عاجز : داملامحمد ابراهیم عاجز، دبد خشان در ستاق دی په۱۳۶۷هـ ق کال په‌هغه‌ځای کښې‌زیږیدلی دی، اوپه بخارا او دماوراءالنهر په‌نوروښارونو کښې‌ټې‌تحصیل کړی دی، نوموړی په‌خط اوادب کښې دلوړی‌مرتبی خاوندشو، ورو سته له‌تحصیل څخه بیرته خپل‌وطن رستاق ته‌راغی اوپه تدریس بوخت شو ، ترهغو چه‌په ۱۳۲۰ هـ ق کال په۵۳ کالنی عمروفات‌شو. دالاندی غزل دده دکلام نخبه ده :

غزل

حبیبم چیست نقصان‌ازخیالت‌من‌فراموشم
زبخت تیره همچو کاکل‌خوبان پس گوشم
نباشد این‌قدرفرصت حیات بزم امکان‌را
حباب آسا به‌بزم زندگانی خانه بردوشم
نشدهمدردوقتم‌هیچکس یارب‌چه‌بخت‌است‌این
بشام بیکسی از هجر تنها زهر می‌نوشم
خمار نشهٔ توحید بس فیض دیگر دارد
زخود بیگانه‌ام عمریست‌اندرفکرمدهوشم
بدرك گلشن راز حقیقت ده خرد مندی
زلطف‌ومرحمت بیدارساز ازخواب‌خرگوشم
ندارم خدمتی شایستهٔ درگاه یز دانی
ولی‌من‌حاجبان درگه اش راحلقه‌در گوشم
هوس بر وردهٔ دیبا ومخمل‌نیستم زینسان
عجب ز پیندگی دارد لباس فقر بردوشم
مشوعاجز تونومید طلب منشین زپاهر گز
که‌تا جان دربدن باشدبوصل‌یارمیکوشم

مسلك : سیدملك بن سید شاه فقیر ، متخلص په ( مسلك ) له بدخشان ددرواز د جوی په علاقه کښې د « وجم » نومی کلی ؤ، دی دفضل او پوهی خاوند اولوړ شاعر ؤ، چه خورابنه اشعار ټې ویل ، لکه چه‌غزلی، قصیدی اومخمس او نورزیات اشعارئې ویلی دی . اودی یوزاهد او خدای پرست شخص ؤ، نوموړی په ۱۳۲۱هـ ق کال وفات شوی دی .

دالاندی رباعی اوغزل دده دکلام نمونه ده :

رباعی

یارب عمل که‌زشت کردم توبه نسیان رهٔ بهشت کردم‌توبه
هرنیك‌وبدی که کردم‌درعالم هرمعصیتی که کشت کردم‌توبه

غـز ل

هر کجا جلوه گر آن ماهوش بیداد است
دل دیوانـه زانـد وه جهـان آزاد است
سخت میترسم از آن فتنه آفـاق جهـان
زانکه برقتل من ازهرمژه‌اش فولاد است

باش سرگشته ومجنون به خیـال لیلـی
پـرتـو جهرهٔ شریـن ستم فـر هـاد است

مسلکا باغ جنو نت زشمر خـالـی نیست
این چنین طبع سلیمی که خدایت داداست

میرزا یوسف کرخی : دی دجنیداله حاذق هروری له کورنیو څخه دی . دآثار هرات د لیکنی له مخی هر کندپښی چې په ۱۳۲۰ هـ ق کال په اویا کالنیو وفات شوی دی .

له‌هغی څخه معلومیږی چې په ۱۲۵۰هـ ق کال زیږیدلی دی. دی یودیوان هم‌لری، او له غزلو ویلوسره ئې زیاته مینه لرله دالاندی غزل دده‌دی :

غـزل

باغبان هر گل که بر طرف چمن می پرورد
درخیـال عشـوهٔ آن گـلبدن مـی پـرورد

نـازم ازشـاخ گـلی کـاندر بهار ستـان حسن
سـرور ا در جیب نسرین وسمن می پرورد

دیدم آن آبرو کمـال‌را داده‌چشم ازسرمه آب
گـفتم این‌خونخوار را برقتل من می پرورد

کس نه بیند شا خ گل بامیوه پیو ندد ببین
نخل این گـلدسته را سیب ذقن می پرورد

بیشتر شـیرین لبـان باتلخ گـو ئی مـا یلند
خو ئی شکر لعل من خلق حسن می پرورد

یوسف مهر و بمصر نـا زو یعقوب حـز ین
رشك حسرت را ببوی پیر هن می پـرورد

یحیی : دده نوم ملایحیی بن ملا حبیب‌الله ؤ، دی په‌آخوند مشهور ؤ، اود هرات دلوړو خطیبانو اوستروشاعرانو څخه ؤ، په گـازرگـاه کښې ئې استو گـنه لرله، پـه ۱۲۵۵هـ ق کښې زیږیدلی دی . نوموړی به همیشه په‌وعظ اوخطابه مشغول ؤ، اوډول ډول ښه خطو نه به‌ئې لیکل . په ۱۳۲۰هـ ق کال وفات شوی‌دی.دالاندی‌رباعی‌چه‌دهرات دپیردزوی‌دشناختی(لوح‌سنگ) دجگولو دتاریخ په‌باب کی و یل شوې ده دده ده :

رباعی

رضوان پې نظـا رهٔ رفـیع د رجات
آمد بـه طـواف مرقـد پـیر هرات

لوح خلفش دید و بتـا ریخـش گـفت
بر سید کا ئـنـات بی حد صـلوات

۱۲۰۹ هجری قمری

ناجی: دبدخشان‌دډرواز د(جوی)له‌مشهورو شاعرانو څخه‌دی، دده نوم‌ملامیر خواجه‌دی ، اوتخلص ئې (ناجی) ؤ ، دناجی‌آثار چه‌زیات ئې لاس‌ته راغلی‌دی تراوسه بوری دیوې مجمو عی په ډول ندی تدوین شوی، ناجی به ۱۳۲۲ کال په ۳٤ کالنی‌عمر وفات‌شوی‌دی ، نودیې‌تاریخ له‌مخی معلومیږی‌چه‌په۱۲۸۸ هـ ق کال زیږیدلی دی . دالاندی غزل دده دکلام نمونه ده :

غزل

یك اشارت‌زتو چون‌اشك دویدن ازمن
یك عنایت زتو ازخویش بریدن ازمن

عشوه بنمودن ودل بردن وشوخم ازتو
مر غ بسمل شده در خاك تپیدن ازمن

چست بگذ شتن و نادیدن ورفتن ازتو
جامه‌بدریدن وصد نعره کشیدن ازمن

وحش‌سان رفتن وتعجیل نمو دن ازتو
دام آ وردن و در راه تنیدن از من

عشوه ها کردن وعیاری نمودن ازتو
خون‌دل‌خوردن‌و خونابه گریستن‌ازمن

ناجی رابردن وآغوش گر فتن از تو
بوسه‌ها دادن و تبخاله گر یدن ازمن

عزت مزاری : دده‌نوم ملاعزت‌الله بن ایشان طوره خان‌بن خواجه‌خان دی،نوموړی دمزارشریف په‌ښار کښې‌زیږیدلی‌دی ، اوچه‌لوی‌شو دلوړو تحصیلاتو د پاره بخارا ته لاړ ، په هغو سیمو کی ئې‌په‌حکمت‌اوطبابت کښې‌ښه مهارت حاصل کړ،بیابیرته خیل هیواد ته راغی ، او په‌ندریس بوخت‌شو ، خوداسحاق‌خان دالو گوڼې اواغتشاش له کـبله خیل وطن ورته اورشو بیرته ماوراء النهر ته‌ولاړ اوبه شیرآباد کی ئې استوگنه غوره‌کړه ترخوچه‌په۱۳۲۲ هـ ق کال په‌هغه‌ځای کی‌وفات شو ، نوموړی په ادب او شعر کښې پوره مهارت درلود ، دالاندی غزل دده دکلام نمونه‌ده .

غـز ل

بیجمالت گل بچشم خار غیرت میزند
سنبل ازسودای‌زلفت فال‌وحشت میزند

درشب‌هجران بیاد عا رض آن تندخو
موج مخمل برتن‌من‌نیش حسرت‌میزند

شمع‌سان‌ازبس‌بحال خویش کردم گریه‌سر
هرحباب اشك ازآن‌جوش‌ندامت میزند

دائرة‌المعارف ۵۰۰ جلد

پرتوی ازعکس رویت اوفتادآئینه را
خانه‌اش زانرولبالب موج حیرت میزند
عزت‌ما دربخارا با بخاری کرد خوی
پشت پا بر مسند اقبال و عزت میزند

ناله : دده نوم سیدمیرك بن سیدعزیزالله سید عنایت‌الله چه په پیرراه دره مشهور ؤ ، له کورنی څخه چه‌احوال ئې و یاندی بیان شول ، ؤ ، ناله په‌فضل اوپه‌ادب کی په مهارت مشهورؤ، اوپه خلکو کی‌ئې‌شهرت درلود ، دامیر عبدالرحمن په‌وخت کی داحتساب په رتبه مقررؤ ، اوخپل ژوند‌ئې په دغه وظیفه شغل درلود . په۱۳۲٦ ه ق کال په‌فیض آباد کی‌وفات‌شوی‌ی، اوپه هغه ځای کی خښ‌شوی‌دی . دالاندی غزل دده‌د کلام‌نمونه‌ده:

غزل

دوستان بعد وفاتم بوفا یاد کنید
روخ حرمان زده‌ام رابدعاشاد کنید
مردم ازحسرت آن لعبت شرین‌حرکات
باردیگر به‌جهان ماتم فرهاد کنید
ای رقیبان نفسی عشرت پرویز کنید
نقد هستی بفنا داده و بر باد کنید،
نیست‌آسان که‌رسد گوهرمقصودبکف
خاك گردیده چومن طرح نوایجاد کنید
گرشود محفل آراسته ازگلشن‌اُس
به تسلی دلم ناله وفریاد کنید

قاری : دده‌نوم میرا سمعیل بن میر شمس الدین اوپه قاری مشهورؤ، نوموړی دبلخ له‌مشاهیرو څخه‌ؤ ، زیاته موده د قضا په‌وظیفه مصروف ؤ، په‌شعر کی‌ئې هم مهارت‌لاره ، دحج دادا کولو دپاره بیت‌الله شریف ته‌هم تللی ؤ په ۱۳۲٦ ه ق کال وفات شوی‌دی . دالاندی څو بیتونه دده دی :

له‌مآثر بلخ‌څخه

درین ورق که‌نمودم رقم مرادم چیست
کسی که‌صاحب هوش‌است‌پی‌برد بمراد
زمانه را گذر واعتماد نیست به عمر
بآن رفیق عجب کز رفیق نارد یاد

داهم دده دی

هر چه بود لذت عیش جهان
از همگی صحبت یاران خوشست
لیك بآئین رفیقان وقت
هرچه که‌دل خواهدشان‌آن‌خوشست

ذره : دده نوم ملا عبدالقادر بن گدای بیگ ؤ، نوموړی‌د ریزیدلی‌دی ، په‌مروجوعلومو کښی‌نه‌هغه‌سیمه کی استادؤ ،بیاد مزار شریف خواته‌تللی‌دی ، اوخورابنه‌طبع ئې لرله ، اودنظم اقسام ئی لکه قصیدی ، غزلی ، قطعی، مخمسات اونور خورا بنه‌ویل . په۱۳۲۷ ه ق کال‌وفات شوی‌دی . دالاندی‌دوه بیتونه اوغزل دده‌دی :

از کجا ای‌بت من تازه‌وتر می آئی
همچو گل همنفس باد سحر می آئی
گر نداری سر طوف دل عشاق‌حزین
ازچه دامن‌زده برطرف کمر می آئی
درانتظار روی تو اشکم چکیدنی است
این‌هجر جانگذارترا ، دیدهٔ دیدنی است
گر این بود گرانی بار فراق تو
حاجت به‌شبهه نیست که‌قدم خمیدنی است
خوشدل به‌سیرسبزه‌نشین‌باده نوش کن
کاین سبزه‌عاقبت‌زمزارت‌دمیدنی‌است
از دوش بر زمین ننهم بار حادثات
زیرا که حادثات‌زمین را کشیدنی‌است
بی پرده رفت دختر رزسوی بزم غیر
(ذره) یقین که پردهٔ عفت دریدنی‌است

ضرغام: د مزارشریف له‌شاعرانوڅخه‌ؤ ، اوپه هغه ښار کی په‌عطاری‌سربوخت‌ؤ،له‌خپل‌نوم‌څخه‌ئې چه‌ضرغام‌الدین‌بن‌شمس‌الدین دی، په‌اشعارو کی‌خپل تخلص اخیستی‌ؤ ، ده‌خورابنه طبع لرله اوبودیوان چه‌پرډول‌ډول اشعارومشتمل‌دی ، لری،خوله‌بده‌مرغه په‌هغه‌حریق کی‌چه دښار په بازار اورلګیدلی ؤ ، وسوځید دی په۱۳۲۷ه ق په‌هغه ښار کی‌وفات‌شوی‌دی دالاندی‌غزل‌دده دی :

غزل

الهی پر تونور هدایت بخش جانم‌را
بحمدذات‌پاك خویش جاری کن زبانم‌را
ببحر نظم‌مانند صدف کن دلنشین نظم
چودر، جاده‌بگوش نکته آرایان‌بیانم‌را
ضعیف‌وخسته وبیچاره افتادم بدرگاهت
توانائی کرام فرمای جسم ناتوانم را
دلم‌را دروفا پروانهٔ بزم سعادت کن
بگردان شمع‌فانوس محبت استخوانم‌را
غزال وحشی اقبال را صید کمندم کن
رسانی بر نشان مدعا تیر نشانم را
زنادانی اگر از جادهٔ طاعت برون‌تازم
بگردان ازرهٔ‌عصیان‌زلطف‌خود عنانم‌را
توستاری‌وضرغام‌گنه‌کار از تومیخواهد
که درمحشر نسازی بر ملاعیب نهانم را

۱٤ پیړی‌له‌سترو شاعرانوڅخه‌ؤ ، دسمنگان دخرم په‌علاقه کی

آه: دده نوم میرزا محمد سمیع بن سید میرك ناله، بن سید عزیز الله بن سید عنایت‌الله بدخشی، اوتخلص ئې «آه» دی، نوموړی یوفاضل سړی اودپوره کمال خاوند ؤ، په شعر او ادبیاتو کې ئې بشپړ قدرت لاره په ۱۳۲۸ه ق کال د بدخشان په فیض آباد کې وفات شوی دی، او په هغه ځای کې ئې مزاردی دا لاندی غزل دده دکلام نمونه ده :

غزل

بازم آن حور نسب فتنهٔ دوران آمد
گل بسر باده بکف مست وغزل خوان آمد
جان من ازبدنم کلفت دوری میسند
کن تامل نفسی حضرت جانان آمد
رفتنش سوی سفر رفتن روح ازبدن است
چیست باز آمدنش موجهٔ حیوان آمد
شکر ضایع نشد آن روح بحسرت دادن
آخرای جسم فسرده ببرت جان آمد
باز آغاز سفر کرد دل از غایت داغ
آه جانسوز بر آورد که هجران آمد

مسلم: دده نوم خدایار بیگ ؤ ، دی په اصل کې دشغنان ؤ دامیر عبدالرحمن په زمانه کښې ئې ژوند کاوه، دی دبدخشان په شغنان کې زیږیدلی اوهلته روزل شوی چه د هغه ځای له ستر و علماؤ څخه ئې علمی استفاده اوتحصیل کړی دی ، او کوم وخت دبدخشان دسترو اشخاصو په ډله کې کابل ته راوستل شوی دی اوده ډیل فضل اوپوهی په اثر دامیر دربار ته لار پیدا کړه اودهغه له خوا ئې نوازش وشو ده په شعر اوادبیاتو کې ښه مهارت درلود . دالاندی غزل دده دی :

غزل

چون قدت اندر گلستان سرو موزون است نیست
همچو رخسارت منور مهر گردون است نیست
لیلی من کلفت شوق تو برجان من است
ثبت در دیباچهٔ اوضاع مجنون است نیست
گردش چشمت تماشا خانهٔ مشق جنون
همچو ابرویت کمان خانهٔ نون است نیست
گرچه شاخ ارغوان چون غازهٔ خون دلست
مثل آن رخسار آتش رنگ گلگون است نیست
مسلما اندر حضور چشم خون افشان تو
در کمان اشك ریزی رود جیحون است نیست

مهجور دروازی : دده نوم ملا سید علی خواجه بن ملا حامد خواجه صدور دروازی ؤ ، نوموړی په دروازکښې زیږیدلی اوهلته لوی شوی دی، دتحصیل دپاره بخارا ته تللی ؤ، په هغه ځای کې ئې تحصیل وکړ اوښه مشهور شو، ده خورا ښه طبع لرله اوښه اشعار به ئې ویل په ۱۳۲۶ه ق کال وفات شوی دی دده دالاندی غزل په تذکرهٔ محترم اوتذکرهٔ افضل کې لیکل شوی دی :

غزل

خو ناب سر شك من هرروز بود جاری
دل سوخت جگرخون شد ایشوخ خبر داری
درخانهٔ غم تنها از بخت سیه نالم
ازشام فراق او یارب تو نگهداری
برگردوفا هرگز آنشوخ نمیگردد
کردیم بجان ودل هرچند خریداری
ازقوس دوابرویش خوردم بجگرزخمی
درجاده حسرتها افتاده بصد خواری
خاکستر هجرانم برباد رود روزی
آخر چه جفا بر من ایمه تو روا داری
ایباد صبا برگو احوال دل زارم
ازمن چه گنه سرزد دارد سر بیزاری
عاشق چو فتد از پا معشوق ببر دارد
بیرون نکند خودرا از جادهٔ دلداری
جز لاله نمی بینم در سینه بجز داغی
مهجور بسر پیچد اندوه گر فتاری

بهرین دروازی : د ۱۴ ږیرلې شاعرانو څخه دی ؛ دزیږیدنې اومړینې نیټه ئې لاس ته رانغله؛ خو ذکر ئې دپیرمستی هروی په تذکرهٔ افضل کښې، چه په ۱۳۲۲ کال کښې ئې بشپړه کړې راغلی دی دده نوم ملا عبدالحق دی اودبدخشان په دروازکښې زیږیدلی دی دتحصیل لپاره بخارا ته ولاړ؛ دتذکرهٔ افضل په قول ئې په فارسی اوعربی ژبه کښې مهارت درلود؛ کلام ئې پوخ متین او رنګین دی دمتقدمینو غزل ئې مخمس کولی؛ لاندینی مخمس دده دی :

دهلالی پرغزل باندې مخمس

تو که آن زمان نمودی، بسرم یکی اشاره
خردم پر بده از سر بدلم زده شراره
نه مرازتو صبوری نه ز تست یك نظاره
بکجا روم ز دردم چه دوا کنم چه چاره
که هزار بار خو نشد جگر هزار پاره
زمحبت نگارا شده داغ مو بمویم
که ز سوز اشتیاقت همه جا بجستجویم
برودزجای گردون زخروشهای وهویم
منم وزعشق دردی که اگر بکوه گویم
بخدا که نرم گردد دل سخت سنگ خاره

بدوروزه عمر جانا بتو چون توان نشینم
ز حدیقهٔ وصالت بچه طور گل بچینم
مددی نمود بختم که دمی شوی قرینم
بدو دیده کی توانم که رخ تو سیر بینم
دو هزار دیده باید که ترا کنم نظاره
شده چشم انتظارم برهت یکی گذر کن
بخدا بسوی بهرین ز کرم یکی نظر کن
پس ازین ستم‌شعاری زخیال‌خود بدر کن
دل خستهٔ (هلالی) چو بسوختی حذر کن
که مباد ز آتش او بر سد ترا شراره

محمدافضل افضل : په‌اصل کښې دهرات‌ډی‌او په ماوراءالنهر کښې پې روزنه اونشوونما موندلی ده، نوم پې محمد افضل بن اشرف دی .

افضل دعصر په‌مروجومختلفو علومو کښې قوی لاس درلود اودفارسی اوعربی په‌ادبیاتو کښې بیاوړی و، په قصیده ، غزل قطعه اونورو کښې پې پوره مهارت ښو دلی دی، د سید امیر عبدالاحد محمد بهادر خان په‌دربار کښې‌محترم او معزز ؤ اوهم دده په‌مدح کښې غوری‌قصیدې لری،اوخپله تذکره‌پې د«تذکرهٔ افضل» په‌نامه دده په‌خواهش لیکلې او په ۱۳۲۲کال کښې پې هغه بشپړه کړی‌ده. دتذکرهٔ محترم په‌قول افضل‌دنحوې په علم، مل، حساب، معما، نظم اودنثر په انشا کښې مهارت درلود . ده د۱٤ پیړۍ په‌لمړۍ نیمائی کښې ژوندرلود ؛ دغه لاندی‌غزل دده دی :

غ ز ل

الابدیده جلوه گر، زجلوه ات بهارها
زداغ تو کشیده سر ، زسینه لاله‌زار ها
فراق‌لعل‌چون‌ملت، چکانده چون زدیده ها
هوای‌روی چون گلت،بدل‌خلانده خارها
بیاکه بیرخت روان، سرشك های عاشقان
شده زچشم خون فشان،بسان چشمه سارها
ستان بسیر گلستان ، زلاله ها پیاله ها
فشان بچشم خون‌فشان ، زخاکپا غبارها
نگاه هوش دشمنت، گرفته راه عقل‌ودین
نموده چشم پرفتنت زجان‌دل شکار ها
چومن بطیبت ایکه ، افضلی بفن دلبری
مدار دست دلبری، ز (افضل) فگار ها

لکه چه دده له پوې قصیدې څخه مملو میږی، افضل دسید عبدالاحمد خان دخراج مستوفی ؤ .

شمس‌الدین در وازی : په «ملا» مشهور او دافضل سره معاصر ؤ. بخاراته تللی هلته د علم په زده کړه بوخت شو او اود تحصیل له‌اکمال نه وروسته بیر ته خپل وطن ته راغی او دژوندانه تر آخره پوری دلته ؤ. دی په‌ادبیاتو کښې ماهر ؤ اوشعری قریحه پې‌هم‌درلودله؛ دالاندی ذرقافیتین غزل دده دی:

غزل

بسکه جوش تیره بختیها بسکار ماست مست
از رهٔ تسلیم ما را بسکقدم بیجا ست جست
در کج اندیشی حصول رستگاری مشکلست
درطریق رستگاری هر که گردد راست رست
دید چون سرو قدت را بهر دفع زخم چشم
چون چنار ازهر کناری بردعا پیداست دست
مدعی‌زین‌بیش‌در دل‌کین «شمس‌الدین» مگیر
ازپی آزار دل هر کس کمین برخاست‌خست

مخلص بدخشی : نوم‌پې ملا محمد موسی او بدخشانی دی؛ په‌بدخشان کښې زېږېدلی دی، د تحصیل لپاره بخاراته ولاړ . ده په شعر اوادب کښې لوړمقام‌ونیو. مخلص دامیر عبدالاحد خان په‌دربار کښې منزلت درلود. دتذکرهٔ محترم خاوند دی په‌نظم اونثر کښې ستایلی اولیکی چه : نظم‌پې کانی مرغلری غوندې رفیع‌المکان اونثر پې دبدخشانی لال په‌شان‌روښان دی. دده دغه غزل، چه‌په تذکرهٔ افضل کښې‌سره له‌یوه نعت پې‌درج شویدی، دنمونې لامله دلته‌هم ثبت شو :

غزل

بستهٔ حلقهٔ ز لفین نگارم کردند
همچو ضحاك گرفتار دومارم کردند
مضطرب حالم وسیماب صفت درجوشم
منکر طاقت و محروم قرارم کردند
سو سن آسا ببدن جامهٔ عریان دارم
از خجالت همه دم‌سربکنارم کردند
لاله سان داغ دل اردارم صحرا وطنم
بیخبر از ادب شهر و دیارم کردند
مجمر آسا نه دل سوخته تنها دارم
بلکه سر تابقدم غرق شرارم کردند
همچو منصور نگفتیم اناالحق زچه‌رو
بی گنه ناخلفان برسر دارم کردند
گلرخان‌چون‌فلك ازبارغم خنجر ناز
روزوشب پشت‌خم‌وسینه فگارم کردند
شاهدان سوی‌پری‌خانه بافسون وفریب
بردن ازخویش‌ندانم که چکارم کردند
شکرلله که چو مرغ سحر ازروز ازل
«مخلص» دانهٔ خال لب یارم کردند

موزون بدخشانی : نوم یې ملا محمد عیسی اوپه بدخشان کښې زېږېدلی اوپه بخارا کښې روزل شویدی . دانیك خویه شخص په‌قدیم لغت اوتاریخ کښې قادر اودمهارت خاوند ؤ دمتقدمینو داثارو په رموزو اومغلقو اوپیچیده معانیو کښې یې پوره دقت درلود . دتذکرهٔ افضل خاوند په‌دې رشته کښې دده ډېرصفت کوی . همدارنگه‌دتذکرهٔ محترم شپنتن هم دخپلوقلمی اثارو په(۵۲) مخ کښې هغه په‌ډېره مبالغه ستایلی دی ، نوموړی په شعر او ادب کښې هم پیاوړی ؤ . داهوبیتونه دهغې غزلې دی‌چه‌دتیرو ورځواو دامیر دمصاحبی‌په‌حسرت کښې یی ویلی‌دی :

غزل

یاد ایامیکه سیر نو بهاری داشتم
سنبل و گل درچمن هم لاله‌زاری‌داشتم

از هجوم صعوه وجوش عنادل هرطرف
صوت داودی و لحن موسقاری داشتم

در هوای اشتیاق لاله رویان جهان
دود آهی برنفس دردل شراری‌داشتم

گاه داغ‌هجر گاهی مست‌ازجام وصال
گاه در راه خرامش انتظاری داشتم

ازسماع نغمه و از گردش مینای من
دربغل‌جوشان‌عرق‌چون نوبهاری داشتم

ای خوش‌آن‌شبها به حجره‌نکته های دلپذیر
گفتگوئی باحضور شهریاری داشتم

گاه ازتاریخ شاهان گه‌زرزم‌ابن زال
گاه ازسام نریمان برد باری داشتم

گه ازبور پشنگ گه‌ازآن اسفندیار
گاه از روئین دژ گفت وگذاری‌داشتم

هجری : نوم یې ملااسماعیل اواصلا دبدخشان‌ؤ ، یوه موده یې دکیته قورغان په‌ولایت کښې ژوند کاوه اومروجه علوم‌یې هلته حاصل کړل اودقضا رتبې ته‌ورسید . بیا بخاراته ولاړاو لوی امامت یې ونیو . دنستعلین پـه‌خط اونورو کښې‌ئی‌مهارت درلود اوپه شعرو ادب اودینی علومو کښې یې هم معلومات او لیاقت دولود . اشعاریې‌ښه‌دی ؛ دالاندی غزل یې‌له‌تحفة‌الاحباب څخه اقتباس شو :

غزل

تا تماشا باغ را سرو سهی آسا کند
گل‌میان بندد به‌خدمت‌سرورا بی‌پا کند

بهر ایثار قدومش‌سنبل صد برگ تر
پر نیان لاله گلگون بزیر پا کند

التفات چشم شوخ می پرستش بارقیب
خنجر مژگان خودرا بردل ماجا کند

گل برون ازباغ آید بهر استقبال‌او
تامگر نظاره با این نرگس‌شهلا کند

آرزو نشکست«هجری» زآن‌مهٔ نامهربان
لحظه‌لحظه آن‌پری رو ازمن‌استغنا کند

عبدالله ظهوری : اصلا دهرات دی اود بخارا په ښار کښې روزل شویدی. ده هلته دکانداری کوله اودشعرو ادب‌په‌تحصیل کښې یې هم کوشش وکړ اوبـریالی‌شو . ظهوری دحافظ په پیروی‌ـ یودیوان بشپړ کړیدی ؛ پخپل دکان کښې په اوروسو اومړشو . دغه‌لاندی دده دکلام نمونه‌ده :

ای نظامی نظم‌وجامی‌طبع وفر دوسی کـلام
در بر شاهین طبعت (وحشی) جزعصفور نیست

انوری از شهرت شعر تو ما نده در محاق
ازخور طبعت (شعاعـی) راشعـاع نـور نیست

همچو خورشید درخشانی تـو محبوب القلوب
هر کرا مهرتودردل نیست درسر شور نیست

تاوجـود تو بعـالم هست ای عـالـی جناب
شاعران را بر ادای شعر خود دستور نیست

پیکرت شمس در حشا نست و ایشان شپره
هر کجا مهر ست خفاشان مگر مستور نیست

ختم کن‌دیگر سخن‌را ای«ظهوری» زین‌مقال
میشناسد شمس راهر کسکه چشمش کور نیست

حسین : دمیرزا محمد حسین بن داملا میرزا محمد معصوم بن میرزا بقا ، چه‌د خرم دسپمې ؤ ، تخلص دی . یوه موده په زمینداری‌ـ اووروسته په‌رسمی کارو باندې بوخت‌شو ، هموده یې په‌کابل کښې تېره کړیده . په‌شعر اوادب کښې یې قدرت درلود اویو مکمل دیوان یې‌ترتیب کړ اوهم یې‌یوه‌مثنوی‌اتمام ته ورساوه . په۱۳۳۰ هـ ق په‌خرم کښې‌مړشو. دماثر بلخ‌دایکښې له مخې څرګندیږی‌زچه‌نستعلیق خطیې ښه لیکلو ؛ په‌نجوم‌او رمل کې هم‌ماهرؤ . دالاندی‌غزل دهغه‌دی :

غزل

یاد ایامی که در عالم بساطی داشتیم
با همه یاران هـدم انبساطی دا شتیم

انقلابات‌جهان‌راچشم عبرت‌بین کجاست
ورنه درعبرت سراماهم نشاطی داشتیم

گردش‌دوران گردون جمله‌را برباد داد
منزل و مأوی بهر جائی ربا طی داشتیم

شفقت مهرومحبت جمله ازیاران برفت
هر کجا چشم امید وارتباطی داشتیم
چشم بکشای «حسین» وعبرت ازحالم بگیر
دیده بودی پیش ازین ماهم بساطی داشتیم

جوهری : دده نوم ملا محمدشریف اوپه‌حکیم سره‌مشهورؤ دطب په‌علم کښې يې مهارت درلود . يوه زمانه په کابل کښې او وروسته په خان‌آباد کښې اوسيدو . دادب په علم کښې هم پياوړی‌ؤ اوښه اشعار يې‌ويل.مړينه يې په۱۳۳۲ کښې پېښه‌شوه . دغه لاندی غزل دده‌دی .

غزل

گر نگارد خامهٔ نقاش تصویر ترا
بندد از نال قلم زلف گره گیر ترا
طرز گفتار تو گویا درعرق بسرشته‌اند
دایه گویاداده‌است ازنیشکر شیر ترا
میدهد خضر خطت عمرابدعشاق‌را
کرده‌انداز آب‌حیوان بسکه تخمیر ترا
فیضها میجوشد ازطرز بهار دامنت
صدهم عیسی بود صبح تباشیر ترا
بیدلان‌در کویت‌احرام‌شهادت بسته‌اند
در نیام جان فروبردند شمشیر ترا
مصحف آن روز بس‌مضمون بلندافتاده‌است
از بیاض دیده باید خواند تفسیر ترا
عالمی راحرف‌شیرین لبت.فرهاد کرد
درشکر ازبسکه پروردند تقریر ترا

سید میر: دهغوشاعرانو له‌جملې څخه دی چه‌په‌اخرنۍ پېړۍ کښې يې وکړای شودمتقدمينو سبك په قصايد و کښې بهرته راژوندی کړی اودخاقانی‌اونورو پخوانيو شاعرانو اشعاريادته راوړی . سيدمير دهرات دی‌اوپه ۱۲۸۰هـ ق کال کښې‌زېږيدلی دی . ده‌د خطاطۍ ، نقاشۍ ، رسامۍ ، شعر او ادب په فن کښې پوره مهارت درلود. په‌شعر کښې يې ستر او پرېږ ديوان ترتيب کړی ؤ چه غوره قصيدې ، غزلې او ر باعی گانې پکښې وی. دی په۱۳۰۳ کال کښې وفات‌شوی. داغوببتونه دده ديوې قصيدی دی :

شبی چون شب دوش شاه کواکب
چو دریا باختر چتر از کرد غایب
رهٔ سبز خنگ حصاری بشد طی
رسید ادهم شب بچندین مواکب
سهیل از بر سقف کحلی در خشان
چو بر سینهٔ اهر من نام واهب
بچر بید ظل زمین بر زوا هر
چو بر روی سلمی هجوم ذواهب
شد از پردهٔ عنبرین بدر تابان
چو برلجهٔ نیل از فضه قارب
قرین گشته سعدین‌چون ویس ورامین
که بر هودج آ بنو سیست لا هب
طرف دار پنجم تو گفتی که دارد
کف نیزه بر پشت پیل مغاصب
خط کهکشان را بر زم سیاهی
زجوهر مگر دانه بسته است قاضب

داقصيده (۹۱) بيتونه‌ديوه‌مطلع لاندې‌لری‌چه داوزد والی په نسبت ترپنه صرف نظروشو . دالاندی رباعی هم دده ده :

رباعی

درمحفل‌ذی‌عقول آشفته سرم  درصحن‌ریاض‌عشق‌ورزان‌شرام
چون میوهٔ نارسم که افتاده بپای
نه زینت بوستان نه زیب شجرم

مخلص : ميرزا محمد يعقوب خان، چه تخلص يې مخلص او دميرزا حسن خان زوی ؤ، په‌اخرنۍ پېړۍ کښې د افغانستان دمقتدرو خطاطانو اوشاعرانو له‌جملې څخه دی . په ۱۲۵۸ هـ ق کال کښې دکابل په‌بالاحصار کښې زېږېدلی دی . ده په ادبی علومو کښې کوشش وکړ او په‌دې رشته کښې يې اهليت حاصل کړ،په‌خطاطۍ، رمالۍ، ميناتور اونورو کښې‌يې پوره برخه درلودله اودلياقت په اثر دباچهانو په دربار کښې، د اميردوست محمد خان څخه نيولی ترامير‌حبيب‌الله خان پورې، معزز اومحترم اوسپده اود عبدالرحمن خان اوحبيب‌الله خان او سردار نصرالله خان په‌مدح کښې قصيدې هم لری . دده قصيدې رباعی گانې اومخمسونه په‌خپلو قلمی جونګونو کښې شته‌دی په ۱۳۳۳هـ ق کال کښې مړشو . دالاندی غزل دده دی :

غزل

مرا بتحفهٔ بزم حضور جز جان نیست
هزار حیف که‌جانم‌قبول جانان نیست
گذشتم ازسر جان درغمت به آسانی
مسلم‌است که ازجان گذشتن آسان نیست
شکنج زلف تو مجموعهٔ پریشا نیست
چوهست‌جمع‌دلی درجهان پریشان نیست
چه دردها که بدرمان رسید آخر کار
مگر بدرد دلم در زمانه درمان نیست
حکا یتیست زآب حیات در افسواه
چوچشمهٔ لب‌توش توآب حیوان نیست

هزار حیف که خاك رهٔ تو گردیدم
ولی غبار مراره بطرف دامان نیست
گرفتم آنکه گمان همچوابروی یاراست
خدنگ سینه شگافی چو تیرمژگان نیست
گله زمردم نادان دگر مکن «مخلص»
کسی شکایت حیوان کند که انسان نیست

مجنون : سیدفخرالدین دسیدهاشم شاه زوی ، چه لقب یې مجنون شاه او تخلص یې مجنون ؤ ، به ۱۲۴۲هـ ق کال کښې زېږېدلی دی . په‌ورو کتوب کښې دعلم تحصیل پسې ووت . شفر اوادب ته هم متوجه شو اوډېر اشعار لری. دده د منظومو کتابونوله جملې څخه عین‌العشق، ظهورالوحدت اوفقر نامه‌ده، اودیوان یی د (بستان خیال) به نامه دی چه به ۱۲۹۶کال کښې پای ته رسیدلی دی .

دده وفات‌یی به ۱۳۰۵ کښې ویلی دی . مزار یی دکابل‌په‌ده افغانانو کښې دمجنون‌شاه» په نوم باندې مشهوردی. دالاندی غزل دهغه دی :

غزل

تاسر خود بدر پیر مغان بنهادم
کرد از روی کرم رمز نهان امدادم
زنهادم شرو شور دگری پیدا شد
که دگر گون شد این گنبدنو آبادم
زلف دلدار فتاد است بچنگم امروز
کافر عشقم واز دین و خرد آزادم
شعله آتش اوایـن تن بیچارهٔ ما
آنچنان سوخت که رفته بفلك فریادم
رفتم‌ازخویش بجائی که‌شهودم گم‌شد
وحدت صرف شدم‌وه که بخود دل شادم
بشنو رمز خدائی ز زبان «مجنون»
که ز بهر تو من از عالم قدس افتادم

معتصم : نوم یی ملامحمدشریف او دملا محمد رحیم بلخی زوی دی . دی په ماوراءالنهر کښې لوی اوروزل شوی دی . دنستعلیق په‌خط ، جفراوقافو کښې بریال شو اوپه‌شعر و ادب کښې‌یی لوړمقام حاصل کړ . یوځلی اسلام‌بولی ته ولاړ او هلته دکتابونو په‌تجارت اودکتابو په‌نشر بوخت شو . په فارسی عربی اوترکی ژبه کښې‌یی قوی‌لاس درلود اوښه شعربی وایو دابوبکر صدیق (رض) قصیده اودبرده قصیده یی په نـوموړو درې واړو ژبو باندې مخمس کړی‌دی . تخلص بی شیریـن هم ؤ. په‌اسلام بول کښې وفات‌شویدی. دغه لاندی‌غزل د معتصم په تخلص باندې دده دی :

غـز ل

سراپا ننگم از نیرنگ بی رنگی بنیـا دم
ز هستی تاعـدم تـکلیف دست صنع ایجادم
زماتم خـانه ا شد آنچنان یغمای ویرانی
نمیگر دد بد ست سعی اکنون هیچ آبـادم
زتمکین سخن چون کوه وقف گوش تسلیمم
لب پاسخ بحرف هیچکس نشنیده نکشا دم
بخون‌دل زخوبـان جهان چون د ست بردارم
مگر درمکتب عشق این سبق دادست استادم
دواندم ریشهٔ امید واری ها درین گـلشن
زتحصیل ثمرعمریست همچون‌سرو آزادم
فلك‌را کردچون‌دیوانگان‌سر گشته درعالم
جنون طوفانی بیداد هجران پری زادم
زدل تا دیده ام ازمرده طبعی خانهٔ ماتم
شود آزرده‌خاطر «معتصم»هر کس کند یادم

مهجور هروی: اصلادهرات دبیهق دی. نوم یې ملا محمود اوپه‌توپچی باشی باندې مشهور ؤ په کو چنیوالی کښې ماوراء النهرته‌ولاړاوپه بخارا کښې‌روزلی شوی دی هلته‌دامیرعبد لاحدخان په‌دربار کښې لوړمقام‌درلود . یودموده دهغه سرعـسکرؤ :لـکه چه‌نوموړی اعلیحضرت دهغه‌دوفات تاریخ داسی موندلی دی :

بهر تاریخ فوت سرعسکر اینچنین گفت عاجز مسعود
گوشهٔ‌ازهـرات ساقط شـد (باد آباد آخرت محمود)

په‌اشعارو اوادبیاتو کښې هم‌ماهرؤ اوښه‌بیتونه یې ویل دغه لاندی‌څوبیتونه‌دهغه له یوې نعتې څخه اقتباس شول :

نعت

فر دوس جنـان بود سرایت باعرش بریـن رسیده پایت
ځوبی که ازاوست خلدراظل درحشر همـان بود لوایت
اطباق فلـك، رواق انجـم موجود شـده همه بـرایت
جبریل کـه بود داعی وحی در سدره نـگشت از قفـایت
میکـال نمود همرهـی بعـد بار فـرف قرب بر عـلایت
ای کرده عروج برتر ازعقل دانسته توئی وهـم خـدایت
«مهـجور» بمعصیت غنـوده بخشای ورا بخـاك پـایـت

مخمور: نوم یې محمد شریف اوتخلص یې مخمور دی . دی دحضرت‌علی کرم‌الله‌وجهه دروضې له‌خدمتگارانو څخه یوتن ؤ اوپه‌هغه آستان کښې‌دمجاور په‌حیث اوسیدو . سربیره‌پرشاعری باندی‌په‌نقاشی اولواحی کښې‌ئی هم مهارت درلود . دروضې مبارکې داخلی‌نقاشی اکـثره‌ده کړې‌ده . د۱۳۳۶هـ قمری کال په حدودو کښې و فات شو . دالانـدی غزل دهغه د کـلام نمونه ده :

غزل

هردم شهید خنجر بیداد کیستم
درخون تپیده بسمل جلاد کیستم
بر بستون خراش دلم طعنه میزند
شیرین من بگوی که فرهاد کیستم
عمری خیال درهٔ بیداد میکشم
پرس ازدو زلف شانهٔ شمشاد کیستم
از بند بندمن همه دم ناله میجهد
چون نی تمام عمر بفریاد کیستم
نسیان سرشت گوشهٔ طاق تغافلم
بیرون زخاطر همه دریاد کیستم
«مخمور» رابکلبهٔ خلوت گذاشتی
همدم دمی بخاطر ناشاد کیستم

حبیبی فیض آبادی : دده نوم ملاشاه حبیب په ۱۲۶۳ه کال کښې دبدخشان په فیض آباد کښې زېږېدلی دی . ادبی علوم اویونانی طب یې زده کړل . په شعر کښې یې ښه ذوق درلود اوښه آثار یې په یادګار پرې ایښی دی . دده له معروفو آثارو څخه دګل وبلبل مثنوی یې مشهوردی . دی په ۱۳۳۳ هجری قمری کال ګښې وفات شوی دی دده دالاندی غزل دنمونې په ډول قید شو :

غزل

الهی از کرم بکشای برمن طبع موزونی
که پوشانم قبای نظم را برقد مضمونی
می عشقی بجام و حدتم درده که ازشوقم
بمژگان از دل غمدیده ریزم قطرهٔ خونی
بهرمحفل اگر شمع جمالش پرتو افروزد
پر پروانه وش سوزد هزاران همچومجنونی
بزیر طعنهٔ اغیار دور از یار سر گردان
ندارد عرصهٔ دوران چومن یك بخت واژونی
حریف من نه ئی زاهد بیا بگذر ز کین من
تووآن آب حیوان ومن وآن لعل میگونی
«حبیبی» گرخردمندی بجان ودل شنو پندی
سرخود خم مکن جائی بجز درگاه بیچونی

رحمت بدخشی : رحمت الله دمیرزا اسمعیل زوی د بدخشان له مقتدرو شاعرانو څخه دی . د ۱۲۸۰ه ق په حدودو کښې دفیض آباد په ښار کښې دنیاته راغلی دخپل پلار څخه یې تحصیل وکړ اوپه شعرویلو بوخت شو . یوواړې قندوز ته ولاړ اودمیر مراد بیګ حاکم له خوا قدر اوعزت ورکړ شو او دنديمانو له جملې څخه یې وګرزید اودخپل دیوان په تدوین یې بیل وکړ چه په ۱۳۱۲ هجری قمری کال کښې دامیرعبدالرحمن خان په امر دمیرزا شیرمحمد خوشنویس په خط اودمیرزا محمدیعقوب مخلص په تصحیح اوتردیف په ۱۱۱ص کښې چاپ شو . یوځلې یې هندته سفر وکړ ، خو په ۱۳۳۷ کال کښې بېرته وطن ته راغی دده له یوه بیت څخه معلومیږی چه دشعر پنځه دیوانونه یې درلودل لکه چه وائی :

به کابل چارد وان گفته بودم پیش ازین رحمت
کنون دیوان پنجم را کنم دراند راب آخر

دوفات تاریخ یې نه دی معلوم . دغه لاندی دده دوینانمونه ده .

غزل

به نی همنالهام شب تاسحرای یار ازدستت
بسان شمع دارم دیدهٔ خونبار از دستت
بانداز نگاهی برده ای دین و دل ازدستم
برهمن زاده می بندم کنون زنار ازدستت
رساندی تا بزلف تابدارانگشت رنگین را
زشب تاصبح می پیچم بخود چون مار ازدستت
مکش خنجر بی قتلم نگارا ای سرت گردم
بخاك وخون تو بسمل می تپم دلدار ازدستت
(بگفتا «رحمت» محزون دلریش ای کمان ابرو
بحمدالله که خوردم ناوك خونخوار ازدستت

سردار محمد حسن خان : دمحمد قلیخان زوی اود وزیر فتح خان لمسی اودفارسی ژبې له مقتدرو شاعرانو څخه ؤ . دتولد اووفات تاریخ یې په لاس رانغی . خومعلومه ده چه د عبدالرحمن خان په زمانه کښې ژوندی ؤ . دغه لاندی غزل دهغه دکلام نمونه ده :

غزل

شوخ بیباکی که با اغیار ساغر میزند
بر دل افگار هردم نوك خنجر میزند
تاترشح بر لبش از ساغر می او فتاد
عکس می صد طعنه بر یاقوت احمر میزند
بر رخش بیباك نتوان دیدکان حسن وجمال
ناچخ اندر چشم چون خورشید خاور میزند
سرو در گلشن بیاد قامت رعنای او
از بر قمری همیشه خاك برسر میزند
من زجوش نوبهار حسن او دانسته ام
کاین خط مشکین زگرد عارضش سر میزند
از کمانداری چشم مست اومفهوم شد
راه دین راعاقبت این شوخ کافر میزند
بهر بسمل گشتن تیر نگاهش زاشتیاق
مرغ جان درجسم بیمار «حسن» پر میزند

ملك : دده نوم محمدحسن اوتخلص یې (ملك) دی ، دامیر عبدالرحمن خان په زمانه کښې یې ژوند کاوه . دی دسر دار

محمد ایوب‌خان غازی‌دمیوند دفاتح خیاط ؤ . دشعرطبع یې هم درلودله اوکله‌کله یې غزلی‌جوړولی. دغه لاندی غزل یې‌دحافظ دشعر به‌استقبال اوتضمین ویلی‌دی :

غـز ل

اگر حافظ ببیند طرح باغ نملهٔ‌مارا
بسرو ناز اوبخشد سمرقندو بخارا را
چوبیندسبزه‌وآبش‌نیارد برزبان دیگر
کنارآب‌رکن آبادو گلگشت‌مصلی‌را
نوای شارو ومیناوعطر نرگس‌و شبو
چنان بردندصبرازدل که‌ترکان‌خوان یغمارا
شمیم‌ازپردهٔ برگ گلشن‌چون‌شدبرون گفتم
که‌عشق‌ازپردهٔ‌عصمت‌برون آردزلیخارا
ندارد حاجتی‌میم فرنگی اندرین گلشن
باب‌ورنگ‌وخال‌وخط چه‌حاجت‌روی‌زیبارا
کهن‌سرواززبان سبزه گوید نونهالان‌را
جوانان دوست تر دارند پندپیردانارا
مشوهر گزملول‌ازگرمی‌وبادجلال آباد
جواب تلخ می‌زیبد لب لعل شکرخارا
(ملك)تضمین‌شعرخواجه‌میباید درین گلشن
که‌بر نظم تو افشاند فلك عقدثریارا

سردار محمد عزیزخان عزیز : محمد عزیز خان د سردار شمس الدین خان زوی دکابل په‌ښار کښې زېږېدلی‌دی، ده‌ادبی ذوق درلود اویه‌دې لاره کښې بریالی شواویودیوان یې‌ترتیب کړ ، پخوا په‌دولتی کارونو مشغول ؤ . به۱۳۲۱ه ق کال کښې هغه وخت چه‌دآخچې خواته‌روان ؤ ، دچار بولك په حصه کښې وفات شو اوپه‌مزار شریف کښې خښ کړشو . ده‌دهند به‌سبك شعرویلو . دالاندی غزل‌یې دنمونې په‌تو گه دلته‌قیدشو :

غزل

که دارد تاب هم‌بزمی نگاه پرعتابش را
که‌جای نشأ موج نارمی بالد شرابش را
چو لافد سنبل‌وگل‌پیش رخسارعه قناکش
حلاوت میدهد ازچشمهٔ خورشید آبش را
بهار خامهٔ نقاش نازش هر کجا بالد
لطافت ازگل تصویر میگردد گلابش را
چونشتر حیرتی برق‌رخش‌زد بررگ‌جوهر
نفس درخانهٔ آئینه سوزد اضطرابش را
درآن‌وادی که‌ازخودرفته‌ام‌دربزم سودایش
شرربالد درنگ از خون گرمی شتابش‌را
«عزیز»ابی‌حجاب آن‌حسن‌یکتارا که‌می بیند
سر انگشت خیالم گر نبردارد نقابش‌را

تاجر : احمدجانخان،چه‌تخلص‌یې (تاجر) اوپه‌کام‌الکوزی‌ؤ، دامیر عبدالرحمن‌خان دزمانې‌له شاعرانو څخه‌دی . احمدجان په فارسی شعر کښې ډېر مقتدرؤ . ساده اورنگین اشعار او یخې اومتینې قصیدې لری . ده‌عبدالرحمن‌خان ، نصرالله‌خان او امیر حبیب‌الله‌خان ستایلی‌دی. مخصوصا دده هغه قصیده چه دشهزاده حبیب‌الله‌خان اوشهزاده‌نصرالله‌خان دسونت گیری‌ په مناسبت یې په(۱۱۸) بیتونو کښې ویلې‌ده ، دتذکروړده . دتولد او وفات تاریخ یې لاس ته‌رانغی . دالاندی غزل دهغه دی :

غـزل

دوش تازلف دل‌آرای ترا باد کشید
دل آشفته‌ام از رشك چه بیداد کشید
بساهمه نسا زو ادا و حرکات شیرین
نازم‌آن خامه که‌آن‌حسن خداداد کشید
خواستم قد دل آرای وی ازمانی دل
قلم از آه حزین ساخته فریاد کشید
صفحهٔ روی تو بنوشت چو نقاش ازل
بی‌بدل بود وچشم توبرآن‌صاد کشید
اینچنین حسن وادا گربمثل شیرین داشت
بچنان صورت او تیشهٔ فرهاد کشید
تا بدست آورد ازکاکل مشکین تاری
جور صد اره خودشانهٔ شمشاد کشید
حوریان رقص کنان‌دوش‌بهم‌میگفتند
طرفهٔ نقشیست مگرتاجر استاد کشید

ندیم کابلی : ده نوم عبدالغفور اود غلام حیدرزوی‌دی .په ۱۲۹٦ ه ق کال کښې دکابل‌په‌ښار کښې زېږېدلی‌دی دابتدائی علومو له‌تحصیل نه‌وروسته په رسمی کارونو کښې داخل شو . په‌شعر اوادب کښې پیاوړی‌ؤ . په‌صرف او نحو ، بدیع‌اوبیان، عروض او قواف کښې یې معلومات حاصل کړل او یو کتاب یې په‌صرف کښې تالیف کړیدی . ندیم «دانکسار» په نامه یوه جریده هم نشرې کړیده چه لحینی شماري یې لیدلی کیږی . دندیم دیوان ، چه‌هرډول اشعار لری ، په تهران کښې دسردارعزیزالله‌خان قتیل به‌ذریعه‌چاپ‌شویدی . دی‌به۱۳۳٤ه ق کال کښې په کابل کښې مړشو . دالاندی‌غزل یې دلته‌قید شو:

غـز ل

چندروزی ازسرکوی‌تو پا خواهم گرفت
تابه بینم دامن وصلت کجا خواهم گرفت
بعد ازآن‌ازدرگه‌ات بیگانگی خواهم‌نمود
ازتوظالم‌خویش راناآشنا خواهم گرفت
سالها خون گریه خواهم کرداز‌هجرتومن
انتقام خودبدین‌رنگ ازحیا خواهم گرفت

تا کنم آشفته تر زلف بر پشان ترا
درشب تاریك دامان د عا خواهم گرفت
انتهای الفت را تا بدا ند عالمی
شرح بیداد تر ا از ابتدا خواهم گرفت
با توای بت بنده را امروز جای حرف نیست
اجر خود فردای محشر از خدا خواهم گرفت
ازهوا دا ران گلزار سر کو یت نهان
همچو بوی گل سراغت ازصبا خواهم گرفت
خویشرا یکچند همرنگ شررخواهم نمود
دردل سنگت بدین تقریب جاخواهم گرفت
درهوایت چون غبار افتان و خیزان میروم
تا به بینم دامن وصلت کجاخواهم گرفت
گرخدا خواهد حساب نا مرادی (ندیم)
ازتو ای سردفتر جورو جفا خواهم گرفت
(ندیم دي و کتل شی)

عشرت قندهاری : نوموړی دقندهار له شاعرانو اوفاضلا نو څخه دی . متداوله علوم يې زده کړل اوپه ادبياتو کښې يې هم قدرت وموند . تخلص يې لمړی عشرت وُ خو عبدالرحمن خان دی کابل ته را وغوښت؛ د(عشرت) تخلص يې ورباندې کښود اونور يې پرې نښود چه قندهار ته لاړشی. نوداولاد دپلتون له کبله خپه شو او په دې خصوص کښې سوزوونکی اشعارلری دی مکمل اوجامع ديوان لری چه رازراز نظم پکښې دی . وفات يې په ١٣٣٤ ه ق کښې ويل شويدی دغه لاندی غزل دده د کلام نمونه ده :

غزل

بیا ساقی ز کف مگذار اعشب دامن مینا
که شمع بزم عشرت میشمارم گردن مینا
گلستال نشاط خاطرم را تازه رو دارد
مگر رنگ بهار جان بود گل گردن مینا
نشاط نشأمی را غنیمت دان دمی در کش
همین ایماست ساز پرده و خندید ن مینا
خمار حسرت دل گشت پر و از پر عنقا
مگر جوش پری پر داخت زیر دامن مینا
دلم پروانه سان از سوختن پروا نخواهد کرد
چوشمع باده افر وزد ز فانوس تن مینا
نوای صد شکست از پرده های ساز دل
اگر درخواب بینم بزم برهم خوردن مینا
مرنجان خاطر «عشرت» کجائی ساقیا برخیز
که بینم تیغ خون آلود دامن چیدن مینا
(عشرت قندهاری دي و کتل شی)

شیخ : شیخ داملاعبدالقیوم دخلمدی اوپه ١٢٦٤ کال کښې تولد شویدی . مروجه علوم يې تحصیل کړل او وروسته په تدریس باندې مشغول شو.دی منظوم آثار دپهرلری . دده دري مثنویگانی ددرةالشهزاد ، قیامتنامه اوتنبیه المرائی په نومونو مشهوری دی. همدارنگه یومکمل دیوان هم لری ، په١٣٣٦ه ق کال کښې وفات شو. دغه لاندی شو بیتونه دهغه دی :

شد صراحی تهی وساغر خشك — می ناب از کجا کند قلقل
برمذاق لطیف می خـوار ان — ر یخت ایـام با دهٔ فلفل

دده ده

ای فضایل پیشهٔ پرآب ورنگ — علم حاصل کن مشوملای جنگ
آنچه می آید زقول وفعل تو — ازشنیدن دیگران دارند ننگ

ذره : میرزا بوری خان دصوفی نیازمحمدخان زوی دخرم دی.

خپل تحصیل چه يې تکمیل کړ وروسته بیاد سردار اسحق خان منشی شو . دنوموړی سردار له فرار نه وروسته عبد الرحمن خان (ذره) کابل ته را وغوښت اوخپل منشی يې وتاکه. دعبدالرحمن خان له وفات وروسته مزارشریف ته ولاړاو په ١٣٣٦ ه ق کال کښې مړشو . ده په ادبیاتو کښې ډېر مهارت درلوداوپه بدیعی صنایعو باندې پوره پوهیده . اشعار يې زیاتره مصنع دی . دالاندی غزل دده دی .

غزل

قدت سرو وخطت سنبل رخت گل — دوچشم می پرستت ساغرمل
چوهاروتست اندر چشم ماروت — زنخدانت بمر دم چاه بابل
به نز د چشم تو خال سیاهت — به پیش شاه ترکان چون قراول
زمن مهرو وفا وعجزو زاری — زتو نازو ادا ها و تغا فل
نه بلبل بی گلستان خوش بخواند — نه گلشن خوش بود بی لحن بلبل
بیا « ذره » زدنیا مهر بردار — که کس خـانه نسازد بر سر پل

عبدالجلیل جلی: دخلمدی اوپه١٣٠٩ کال کښې زېږېدلی دی دپلار نوم يې میر عصمت الله عاصمی وُ جلی ادبی علوم زده اوشعری قریحه يې پیدا کړه .دنقاشی اوخطاطی په فن کښې يې هم مهارت حاصل کړ،دی داشعارودیوان هم لری . وفات يې په١٣٣٧ه ق کال کښې واقع شویدی دالاندی غزل دهغه د کلام نمونه ده :

غزل

غزال چشم شوخش نر گسستان درنظر دارد
کـمنداززلف وازابرو بکف تیغ دوسردارد
فتاده کا کـلش بردوش از حالم پریشان تر
فدای کا کـلش گردم کـه ازحالـم خبردارد
وفادشمن بتی دارم کـه ازصبـح بنـاگوشش
شب تاریـك هجران پا درآغوش سحر دارد
ریاضت میدهد جا درحریم وصل عا شق را
ببین کز یك خمیدن چین برابرویش گذردارد

اگر یك سجده واری نقش پایش حاصلم گردد
چه ممکن تاقیامت کس سرم از خاك بردارد
نهادم برسر هر بیت یك حرفی ز نامش را
نی کلکم (جلی) زین نام لطف نی شکر دارد

جان نثار: دبلخ له شاعرانو څخه دی چه دسردار اسحاق خان په زمانه کښې هلته ژوند کاوه . دی په رسمی کارونو باندې بوخت ؤ اویوه موده په سنګچارك کښې حاکم هم ؤ . نوم یې جان نثار ؤ .ده یومرتب دیوان درلود چه په سنګچارك کښې ورنه ورك شویدی . داهو بیتونه دهغه دی:

غزل

رسید موسم گل بر نیامدم کامی
بهار میگذرد ساقیا بده جامی
بملك جرم عجایب هراست فصل بهار
نشین ببزم و بکن عیش چند ایامی
بشرط آنکه دوسه چیز باشدت موجود
می وسرودو بت شوخ سیم اندامی
بگیرجام می ازدست ساقی گلرخ
ازآن می که ازو پخته میشود خامی
هرآنکسیکه سکونت پذیر جرم شود
زجرم ؤرست اگر چند دارد اجرامی

عزت دروازی: میرزاعزت شاه دمذهب شاه دروازی زوی دبدخشان له شاعرانو څخه دی دتذکرهٔ افضل خاوند دهغه له تعریف اوتوصیف نه وروسته دهغه وفات په ١٣٣٦هـ ق کال کښې لیکی دغه لاندی غزل دهغه له اشعارو څخه دی :

غزل

تامتاع حسن خودرا او ببا زار آورد
مثل من چندین هزاران رابیا زار آورد
حسن خوبان درضمیر عارفان باشد شجر
محنت واندوه و کلفت هرزمان بار آورد
عندلیب بوستانم باده نوش انجمن
این روشهائیکه دارم برسردار آورد
حضرت حی توانا بر نجات بنده ای
طفل مر گهواره رادردم بگفتار آورد
ذره راخورشید سازدهاله راسازدقمر
صانعی کزچوب خشك اصناف اثمار آورد
زاهدان را بار یاضت عالمانرا باعمل
جاهلان راباتکبر مست وسرشار آورد
میکند وابستهٔ زلفی هزاران گردنی
عاشقان خسته دل رادیده خونبار آورد

بندهٔ «دروازی» اومولودمن گردیده خم
کیست ازخم مثل من اینگونه اشعار آورد
عزتا مایوس ازبسیاری عصیان مباش
ازخزانی میتواند او که گلزار آورد

ندیم بلخی: حاجی بادشاه خواجه ندیم دمیرزا رحمت الله زوی په ١٢٥٤ قمری کښې په مزارشریف کښې زېږېدلی دی . ده په لږه موده کښې له مروجه علوموسخه ذخیره جمع کړه دی دشیر علیخان په دربار کښې معزز ؤ . عبدالرحمن خان هم دی په ابتدا کښې محترم ګڼه دی دسردار اسحاق خان ندیم ؤ خو کوم وقت چه اسحاق خان بغاوت وکړ اوشکست یې وخوړ عبدالرحمن خان (ندیم) کابل ته راووست . دی شیارپس کاله په کابل کښې پاتی شو ترڅو چه دامیرحبیب الله خان په زمانه کښې بیرته خپل وطن ته ولاړ او په ١٣٣٦هـ ق کال کښې وفات شو . ندیم په ادبیاتو کښې دوطن له مقتدروشاعرانو څخه دی دیوان یې غټ اوهر ډول نظم پکښې شته دی . دالاندی غزل دده دی :

غزل

من هرچه دیده ام زدل ودیده دیده ام
گاهی بود گله زدل وگه ز دیده ام
بی نور مانده دیده چوگشتی تودور ازو
بنشین بدیده زآنکه توئی نور دیده ام
کس نیست درقلمرو آفاق غیر تو
آرام جان ، انیس دل غمکشیده ام
جزمهر دوست نیست مرا دردل حزن
حاشاکه حب غیر زدل جمله چیده ام
درحسن و درنکوئی وخوبی ودلبری
آفاق دیده ام چوتو هرگز ندیده ام
جانم بلب رسید بسر وقت من خرام
صد جان فدایت ای صنم نو رسیده ام
تاپاد شاه عشق ترا گشته ام «ندیم»
پیراهن شکیب زصد جا دریده ام

حیرت کابلی: نوم یې محمد ابراهیم اوتخلص یې حیرت کابلی دی تولدیې په ١٢٥٠ کال کښې واقع شویدی . ده په نویسندګی اوخطاطی کښې مهارت درلود . په ادبیاتو ، منطق نجوم، حکمت عروض اوقوافی کښې هم ماهر ؤ ده دشعر دیوان ترتیب کړیدی همدارنګه پنځه کتابونه نور یې هم مخمس کړیدی بل اثر د (تحفهٔ شهنشاهی) په نامه اری . دی په ١٣٣٨هـ ق کال وفات شویدی . دالاندی غزل دهغه دی :

غزل

ازبسکه دیده ام زخم ز لف یار پیچ
زین رهگذر فتاده بکارم هزار پیچ

ایدل بیا وآیت لا تقطنوا بخوان
بنشین بیاد رحمت در انتظار پیچ
جانا بزلف خم بخم بر شکنج یار
بالله که خورده ایم بمانند مار پیچ
خواهی که تیرآه تو ازچرخ بگذرد
زلفش بکف بگیرو بشبهای تار پیچ
زخم درون سینهٔ خود را رفو مکن
رگهای جان خود سراپای یار پیچ
سی پاره سازاین دل افگار خو یش را
«حیرت» بمصحف گل روی نگار پیچ
(حیرت کابلی دې وکتل شی)

نظام الدین خان نظام: دمیرزا کمال الدین انصاری زوی اود شاه اولیا په روضه کښې مجاورؤ. په عربی علومو کښې یې کافی برخه اوپه شعراو ادب کښې یې خاص ذوق در لود . نستعلیق خط یې ښه لیکه. هرډول نظم یې داستاذی په توګه جوړاوه. وفات یې په ۱۳۴۰ه ق کال کښې واقع شویدی. دا لاندی غزل دده دی :

مسلسل غزل

عیش دلخواهی بزیر چرخ نیلی فام کو
یکدل آسوده کویك خاطر آرام کو
گردل وخاطر بجمعیت گراید زاتفاق
دوست کو عهدوفا کوعزت واکرام کو
دوستان چند هم دامداد بخت آمد بکف
پاس صحبت کو لحاظ وقید ننگ و نام کو
پاس صحبت هم میسر شدلحاظ ننگ و نام
عاشق ثابت قدم کو وند درد آشام کو
عاشق ورندی بهم پیوست زامداد قضا
مطرب شیرین نوا کو ساقی خوکام کو
ازتقاضای فلك ساقی و مطرب رخ نمود
طرف گلشن ماه روشن بزم نقل وجام کو
فرض کردم اینهمه روزی بهم آمد «نظام»
اعتمادی برجهان کو تکیه برایام کو

تائب : میرزا محمدعلی دمیرزا سیف الدین زوی او تخلص یې تائب وو . دی په ۱۲۹۰ کال کښې دغزنی دقره باغ په قلعه سنګی کښې زېږېدلی دی . ده په خطاطی اودراز راز خطونو به لیکلو کښې پوره مهارت پیدا کړ . همدارنګه په علم فقه ، تجوید ، صرف ، نحو ، نجوم، ریاضی ، عروض اوجفر کښې یې هم کافی برخه درلوده . دی په ادبیاتو کښې هم دپوره قدرت خاوندؤ . ده یودیوان هم درلود چه له منځه تللی دی . دی په ۱۴۳۸ه ق کال کښې ووژل شو. داهغو بیتونه دسردار نصرالله خان په مدح کښې دیوې قصیدې له تشبیب څخه دنمونې په حیث ثبت شول.

غزل

دگرزرنگ گل افروخت نوبهار آتش
کشید سر ز دل بلبلا ن هزا ر آتش
گذشت فصل حریف ور نالهٔ جا نسوز
بمر غزار فگند است مرغ زار آتش
طلسم ابر نمو د ست لا له کار بها
مگر زداغ کمی داشت در کنار آتش
کجا ست ساقی آ تش غدار تا آرد
در آبگینهٔ صافی زخوش گوار آتش
شد ازتبسم لعلت دل بدخشان آب
زحسن گرم تو بگرفت قند هار آتش
شکایتم نسزد ازستارهٔ طالع
زدست آن در گوشم بچشم زار آتش
بیا بسیر چراغان داعهای دلم
که تا کنم برهت هرطرف قطار آتش
چراغ برقی بزم شهان نمی خواهم
بسی است مشعل آهم شبان تار آتش
بسان آتش زردشت کی شود خاموش
درین قصیده زبس برده ام بکار آتش
(تائب دې وکتل شی)

قاضی : نوم یې میر محمد غوث او تخلص یې قاضی دی . په ۱۲۶۸ ه ق کال کښې زېږېدلی دی اصلا دکابل دده افغانانو وؤ او وروسته دبلخ اومزارشریف بلوته زلاړ . دی دآخرنی پیړۍ لهسترو ادیباتو څخه یوتن دی . په عقلی اونقلی او دینی علومو خصوصا فقه ،حدیث ، تجوند اوتفسیر کښې یی ښه مهارت درلود. دی په هغه سیمه کښې یوه موده داقتا اوقضا په کارونو باندې مشغول وؤ . دبیدل له کلیاتوسره یې علاقه درلوده اودحافظ، بیدل اوصائب ډېرې غزلې یې مخمس کړیدی. دی په ۱۳۳۵ یا ۱۳۳۶ه ق کال کښې مړشو . دالاندی غزل دهغه دی :

غزل

خستهٔ را که غم عشق تو ناشاد کند
دردوعالم بچه بندد دل ودل شاد کند
بندهٔ فتنهٔ آ نچشم سخنگو گر دم
که بیك غمزه دوصد سامری ایجاد کند
دوش درصحن چمن بلبل شیدا میخواند
بنوائی که دل غمزده را شاد کند
خجل از زلف ورخ وقامت او میگر د د
هر که یاد سمن وسنبل وشمشاد کند

نه همین سوختن ازهجر رخ شیرین بود
تاچها عشق بخاکستر فرهاد کند
گر تو یادردل تنگم بگذاری چه عجب
جای درشیشهٔ بشکسته پریزاد کند

ازمن گمشده تاحشر نهان خواهدماند
«قاضی» آن مه بغلط نامم اگر یاد کند

راقم : نوم یې میرزا محمد حسن اوشعری تخلص یې «راقم» دی. به ۱۲۹۰ کال کښې به کابل کښې زېږیدلی دی په کوچنیتوب کښې په تحصیل بوخت شو . په اول کې یې دادبیانو ذوق درلود اوښه اشعار یې ویل . خو کوم وخت چه په ۱۳۲۶ کال کښې په سیاسی علت باندی بندی شو نوادبیاتو ته یې زیاتره توجه وکړه اوښه آثار یې ولیکل . ده هم دیوانونه درلودل چه له منځه تللی دی اواوس یې برته له ځینو اشعارو اوغزلو څخه نور باقی نه دی پاتی . دی له ۹ کالو بندیتوب څخه وروسته په ۱۳۳۵ هـ ق کال کښې وفات شو . دغه لاندی غزل دده دی :

غزل

اگردر گلستان عکسی زرخسار حبیب افتد
بسوزد برگ گل، آتش بجان عندلیب افتد

ادبگاه محبت همچو باز یگاه طفلان نیست
مکن کاری کزان حاجت بتادیب ادیب افتد
نگاه لطف اگر جانان کند برمن عجب نبود
بلی شاهان عالم رانظر سوی غریب افتد
بکوی یار اگر راهی ندارم چشم آن دارم
که حاکم عاقبت درمنزل جانان قریب افتد
مریضی دردعشقم شربت دیدار می خواهم
نیم زانگونه بیماری که کارم باطبیب افتد
زناردوزخم واعظ مترسان این قدر ورنه
بگویم راز لطف دوست گر منبر خطیب افتد
روی بادامن آلوده «راقم» چون تو درمحشر
زنفرت در میان عاصیان شور عجیب افتد

سائل : میرزا محمد اسمعیل د محمد یوسف زوی په ۱۲۹۶ کال کښې دکابل په بشار کښې تولد شوېدی . دخط او کتابت سره له آشنائی نه وروسته په رسمی وظایفو باندې مشغول شو اودحبیب الله خان په زمانه کښې به مزار شریف کښې مالیاتی سرشته دار وتاکل شو. ده له ادبیاتو سره خاصه علاقه درلوده اودمتقدمینو اشعار یې راټولول . یخیله یې هم ښه اشعار جوړول . دی په ۱۳۳۱ کال کښې به مزار شریف کښې مړ شو . دغه څو بیتونه دهغه دیوې قصیدې څخه دی :

ای زلف چلیپای تو بر هم زن دلها
دلهاهمه برهم شده زان زلف چلیپا
سودای سر زلف تو افتاده بهر سو
هرسر ز سر لطف تو افتاده بسودا
بر پای دل سلسله گیسوی تو افگند
افگند عجب سلسله گیسوی تو برپا
تنها نه منم بستهٔ گیسوی تو امروز
امروز بود بستهٔ گیسوی تو تنها

محزون دروازی: نوم یې ملاصدرالدین اود جلال الدین شاه زوی دی چه د دروازې له شهزاد گانو څخه دی ، دی چارجوی ته ولاړ او په هغه سیمه کښې یې سکونت اختیار کړ . ده له مروجه علومونه کافی برخه واخیستله او په ادب کښې هم دخپل عصر له ادیبانو څخه تکړه ؤ اوښه شعر یې ویلو. دی د ۱۴ پیړۍ په لمړنیو نیمائی کښې وفات شو . دالاندی غزل دده دی :

غزل

ای سرو ناز پرورو ای شوخ سیمتن
شرمنده پیش جعدتو صد نافهٔ ختن
دامن کشان چو بگذری ازصحن بوستان
آتش فتد بخرمن نسرین ونسترن
ای شمع بزم سوختگان ساعتی نشین
تاگل کند نشاط محبان در انجمن
تاغنچه دهان تو بشگفت در مقال
افتادصوت بلبل شوریده ازدهن
در گلشنیکه حرف توزور آوری کند
بیرون کشند رخت گل ولاله وسمن
شیرین وشامشو توبدشمن قرین که من
جان میدهم بکوی وفایت چو کوهکن
«محزون» خموش ورنه سخن آوران دهر
شمشیر ها کشیده اند از جوهر سخن

محرم کابلی: دده نوم ملامحمدعلی دی چه یوه ز مانه بخاراته ولاړ اودهغه ځای فاضلانو او ادیبانو سره یې کتنه اولیدنه وکړه دی یوفقیرمشرب سړی ؤ خو په هرځای، کښې عزیز اومحترم ؤ دده اصلی پیشه دور پنمینو دسمالواو تو کرانو او بدل ؤ په دی وسیله یې ژوند کاوه .ده په موسیقی کښې مهارت در لود اوخصوصا رباب یې ښه واهه . په شعر کښې هم له ټولونه مخکښې تللی ؤ . دی یو مکمل دیوان لری محرم خپل وطن ته راغی اودځوار لسمې پیړۍ په نیمائی کښې مړ شو . دغه لاندی غزل دهغه دی .

غزل

ببزم عشق گر وحدت طرز نگاه آنجا
زکثرت بگذر اینجا تابیابی عزوجاه آنجا

حریم خلوت دل اسم ورسم تن نمیداند
طلسم‌چشم بشکن تا ببینی دستگاه آنجا
غلام آستان حضرت پیر خرابا تم
که‌درویشی فروشد ناز استغنا بشاه آنجا
زنخدان رسن مویان معنی را تماشا کن
که بینی صدهزاران یوسف‌دل‌را بچاه آنجا
مقیم مجلس آنم و لیکن میگدازندم
شرار شوق اینجا پیچ وتاب دود آه آنجا
بیزم باده نوشان ساغر از میخانهٔ دارم
که‌صبح‌وشام باشد کاسه گردان مهرو ماه آنجا
حریم وصل اگر خواهی دم از نامحرمان بگسل
که‌یابی همچو «محرم» با کمال عشق راه آنجا

امین: امین‌دسردار شیرعلیخان لمسی دی چه ز یاتره عمر بې په‌هنداو کشمیر کښې تیر کړیدی ، امین په‌شعر کښې پوره مهارت درلود . ده‌یودیوان هم‌ترتیب کړیدی چه‌هرډول نظم پکښې‌دی دتولد اووفات تاریخ یې نه‌دی معلوم . داغزل دده داشعارو له‌هغی‌دیوانچې‌څخه ، چه دده وزور حفیظ‌الله‌خان نسیم جمع کړې ده‌او په‌خپله دتوموړی سردار له‌دیوان‌سره دلیکو نسکې په‌لاس کې‌موجوددده ، انتخاب شو :

غزل

نیست در بزم تو پروای می نوش مرا
چشم مخمور تو هردم برد ازهوش مرا
تاتو آرام درآغوش که داری همه شب
غم این وسوسه بگرفته درآغوش مرا
وعدهٔ وصل که دادی بوفا خواهد شد
گر نسازد دل سنگ تو فراموش مرا
قدر آبش نبود نزد من ازبادهٔ ناب
چون کند آن لب میگون تومدهوش مرا
گرشود طوطی خوشگوی ز آئینه خموش
میتوان کرد زرخسار تو خاموش مرا
امشب از کوکب بختم بود امید چنان
که نماید زپس پرده بنا گوش مرا
گرشود فاخته نالان چو «امین» نیست عجب
بیند او همقدم سرو قبا پوش مرا

جلالی : نوم‌یې جلال‌الدین دملامحمد یوسف زوی اوتخلص یې جلالی دی . دی ۱۲۸۲۹ کال کښې زیږیدلی دی د غورد فیروز کوهی‌طایفې‌دتیمنې‌اوغیبعلی اقوامو له جملې څخه‌ؤ. ده‌دهغه سخت عشق په‌اثر چه‌د «سیه موی» نومې پیغلې سره یې درلود په شعر ویلو شروع وکړه. ده دمعشوقې‌په‌بیلتون کښې‌له‌سوزه ډک بیتونه اوږد ناکې چاربیتې وویلی چه‌تر هم‌د خلمکوڑ‌یې وربانديې بوختی دی . داشعارو شمېر یې دوه زره اوپنځه سوه بیتونو ته‌رسیږی . که‌څه‌هم په‌آخر کښې‌دخیلې معشوقې په‌وصل باندې موفق شو خوډېره موده نشوه تېره چه‌په ۲۳۴۳ هـ کال کښې وفات شو . دالاندی غزل اودوه بیتیزې یې دلته را نقل شولې :

بی‌مطلع غزل

این‌دردمرا کشت تونلدار که گشتی
آتش بمن افتاد تو در مان که بودی
شوری بدل سوخته انداخت فراقت
بر گو نمك سینهٔ بریان کـه بودی
باروی چو مه چشم‌وچراغ که‌شدی‌باز
ا بماه لقا شمع شبستا ن کـه بودی
چون زلف‌تو گردیدسیاه روز «جلالی»
ای‌دوست‌توخورشید درخشان که‌بودی

دوه بیتیزه

بت سیمین سیاه موی‌خماری مرا بادردوغم تا کی گذاری
اگر مردم زسوز اشتیاقت بدست خویش باخاکم سپاری

داهم دده ده .

زبان خامه‌را ازغم شکستم بدل نقش جمال یار بستم
منم‌صنعان‌سیاه موی همچو ترسا اگرفرمان‌دهد بت‌میپرستم

مظلوم بدخشی: بزرگ‌نواجه‌مظلوم دسیدعلی خواجهٔ‌مهجور دروازی زوی اولوی‌عالمؤ . دی دشعرددیوان خاوندؤ اولوړه طبعه یې درلوده . خپل تحصیل‌یې په‌بخارا کښې پای‌ته ورساوه اودهغه‌ځای د۱۳۳۹ په‌انقلاب کښې هلته‌وفات‌شو . ده په‌ادبیاتو کښې ښه مهارت درلود . دالاندی غزل دهغه‌دی .

غزل

بستم زوطن بهر و صالت کمرامروز
باعزم گل روی تو کردم سفر امروز
بی بزمگهٔ یار بود عرصهٔ آفاق
در دیدهٔ من از شب یلدا بتر امروز
چون شانه دلا ویز سر زلف سیاهم
از سینهٔ صد چاك ندارم خبر امروز
آهو صفت ای مهوش گلنام نهادم
با یاد جمال تو بکهسار سر امروز
حیرت زده واشك فشان بی سرو پایم
چون صفل صنیریکه بودبی‌پدر امروز
هیهات که‌در کوچهٔ عشق تو روانم
آمد بلب وشد زجفایت بدر امروز

بگرفت سحاب الم ای‌شوخ گلو یم
زد جوش سرشکم بمثال مطر امروز
از خاك سیه قالب مظلوم برو ن شد
گردید زغمهای جهان خاك تر امروز

عزیز غوریانی : ملامحمدعزیز غوریاتی‌دهرات د۱٤ پیړی‌ـ له شاعرانو څخه‌دی چه‌په ۱۲۸۵ کال کښې‌زېږېدلی‌ؤ . ده‌ډېر اشعارویلی‌دی چه اکثره‌یې‌ددینی اواسلامی‌احساساتو د تحریك لپاره دی . دغه لاندی څو بیتونه‌دهغه دیوه مخمس‌دی :

ای آفرید گا ر جهان حال ما ببین
دشمن ستاده برسر میدان ز بهر کین
شا دند د شمنان تو و دو ستان غمین
شادی مده بدشمن وخواری باهل دین
یا رب‌بحق‌شاه رسل ختم مر سلین
دار ند اتفا ق که دین را بهم ز نند
بر صفحهٔ صحیفهٔ قـر آن رقـم ز نند

بر خاك پاك احمد مرسل قدم ز نند
بر خانهٔ خـد ای صلیب و علـم ز نند
ای کر دگـار ما مگذاری تواینچنین

حاجی : الله قلی‌خان‌حاجی چه تخلص یې پخوا مجزونؤ ، دهرات له‌مشهورو عالمانو اوسترو شاعرانو څخه دی . ده ډېر اشعار ویلی‌دی . یوسف زلیخائی مثنوی یې هم نظم کړی چه نانامه پاتی شویدی . دی‌په۱۳٤۲ ه کال کښې وفات‌شو . دغه لاندی څو بیتونه دهغه له‌یوه مناجات څخه انتخاب شول :

الهی شستشو ده زآب غفرانت گـناهم‌را
بدریاهای رحمت غوطه‌ده جسم‌تباهم‌را

غریق بحرعصیانم نظر برفضل‌رحمانم
مکن‌غیرازدرخود جانب‌دیگر نگاهم را
شد ایام‌جوانی‌صرف گمراهی‌تودر پیری
نما راه‌نجاتم سوی‌خود بنمای راهم‌را
ندا رم آرزوی منصب دنیا خدا وندا
بلندی‌بخش یارب‌نزدپاکان‌عزوجاهم‌را
ندا آمد که‌ای«حاجی»غنیم‌من تومحتاجی
بدیوان قطا تاجی‌بجوئی گرپناهم را

یحیی : محمد یحیی بن میر زا محمد علیخا ن بن میر زا محمدمهدی خان په ۱۲٦۷ کال کښې د محمود خان په کلا کښې زېږېدلی دی. ده‌متداوله علوم په‌خصوصی صورت سره‌زده کړل. په‌شعر اوادبیاتو کښې‌یې ډېر ذوق درلود .دمزار شریف دسفر په‌ترڅ کښې‌یې داشعارو دیوان ورك‌شو . دده هغه دیوان چه‌تر موجوددی او۳٦۹۵ بیتونه‌لری دهغه مکمل‌دیوان نه دی . ځکه چه‌دهغه یوه برخه اشعار اوخصوصاً غزلې‌یې پکښې نشته دی . دی په ۱۳٤۳ه ق کال کښې په کابل کښې مړشو . دیوان یې داشعارو اوویناؤ له‌ټولو طرزونو څخه ډك‌دی .

دالاندی‌غزل یې‌دنمونې لپاره انتخاب شو .

غـزل

دوش آن‌بت‌سیمین تن درخلوت جان بنشست
تـا دل نشود مـائل چون شیشهٔ می بشکست
دل هـای گـر فتـاران افـگنده بزیر پـا
سرهـای طلبگـاران بـگرفته بر وی دست
دیوانه مرا چون یـافت ازغمزه نمود هشیار
هشیار مرا چون دید از عشوه نمودم مست
شد مجمر هٔ حسنش خو ر شید سپند آ سـا
چو ن خـال سیه فا می بر عارض او بنشست
مـا نند رگـ شر یان بنشست در اعضـایم
چون نـاوك دلدوزش گـردید رها از شست
صد رشته بجان افتاد کـززلف گره بکشاد
صدعقده زدل بکشـاد کزلطف میان‌بربست
شد زندهٔ جاویدان صیدی کـه زتیرش مرد
در آتش حسرت مرد مر غیکه زدامش جست
در مجمر هٔ حسنش ا ین بسکه خلیل آ سـا
از آتش نمرو دی نسر ین و ریـاحین رست
پیش لب شیر ینش شد چشمهٔ کـو ثر تلخ
نزد قد مو ز و نش شد شـاخهٔ طو بی پست
گـفتم که‌بود «یحیی» سر گشتهٔ عشقت گفت
دل ازدوجهان بر کند هر کس که‌بما پیوست

غمگین : دده نو م میر عبد المجید خان هروی دی چه په ۱۲۵۲کال کښې زېږېدلی‌ؤ . دی په‌تدریس باندی مشغول اوبو صوفی‌مشرب سړی‌ؤ. ده د اشعارو دیوان هم‌درلود . وفات‌یې‌په ۱۳٤۳ قمری‌کال کښې واقع‌شویدی . دالاندی‌غزل دهغه دی :

غزل

مرد باید کـه کند سعی بغم خواری دل
تاشود مشکلش آ سان بمدد گـاری دل
بـگذ ر د از سیر چر خ نهم تیر د عـا
گـرقدی همچو کمان خم‌شود اززاری دل
مخزن سر دعا دربدن بنده دل است
پاسبانی نشود آن گنج زبیداری دل
ازکرم شاد نما این دل غمگین یـا رب
تابسامان رسیدم کـار زسرداری دل

سردار عباس‌خان : دسردار سلطان محمدخان طلائی زوی اودسردار پاینده محمدخان لمسی ؤ چه په ۱۲۵۲ کال په باغ علیمردان کې زېږیدلی دی . ده په دینی اوادبی پوهنو کې پوره معلومات درلوداو یودیوان لری چه د «گل‌عباس» په نامه مشهوردی او یوه مثنوی د «جواهرخمسه» یا «عناصراربعه» په نامه هم لری اویو تفسیر ئې هم کښلی چه دبوهاندو له‌خوا ئې تصدیق هم شوی دی مړینه ئی په ۱۳۴۳ه ق کال کې‌شوې ده .

دغه‌څو بیته دمغه د «جواهرخمسه» له مثنوی څخه دی .

بحمد حکیم جهان آفرین — بهر آفرینش هزار آفرین
نه‌او والداست و نه اورا ولد — نه‌اوراشریکې نه کفوٌ احد
خداوند بی‌مثل و بی کیف‌وچون — بادراك او عقلها شد زبون
توانا و بینا ودا نای راز — همه خلق محتاج واو بی‌نیاز
نگارندهٔ گنبد نیلگون — برآرندهٔ شیر خالص زخون
برحمت نظر جانب خاك کرد — که‌اوراسزا وارادراك کرد
چه‌احسان‌ولطف‌است باآب‌وگل — که بخشیدش‌ازمرحمت‌جان‌ودل
بخاك آنقدر قدر وعزت نمود — که‌ازبهراوآفرید هرچه بود

نائب‌قضا : نوم ئی محمدحیدر، په (نائب‌قضا) سره مشهور او دهرات له‌لویو بوهاند واوشاعرانو څخه‌ؤ څرنگه چه په‌کام توخی‌ؤ نوځکه په‌شعرونو کې هم‌تخلص توخی بولی. په ۱۳۴۶ کال کې مړاو دامام‌ضمر رازی په‌هډیره کې ښخ کړی شو . دغو څو بیته دده دهغې قصیدی دی چه د امیر حبیب‌الله‌خان په ستاینه او دهرات پرارګ دتوغ دودرولو دنیټی په نسبت ئې په ۱۳۱۹ هجری کال کې ویلی ده :

تانقد حمدتحفهٔ درگاه کبریاست
تاجنس نعت هدیهٔ سالار انبیاست
بادا لوای دولت شاه جهان بلند
کزیمن اوشعائر شرع نبی بپاست
یعنی سراج ملت و دین محمدی
شاهنشهی که‌خالق‌ومخلوق از ورضاست
ماه‌سپهر حکمت وخرشید اوج علم
دریای فضل‌و کان کرم‌منبع‌حیاست
بهر شعار دولت اسلام نصب کرد
این‌رایت‌رفیع که همدوش باسماست
تاریخ نصب رایت‌منصور را زفکر
جویاشدم که‌خضره وپیر رهنماست
پیدا شد از میان بی تاریخ هاتفی
گفتا که فتح ونصرت حق‌سال‌مدعاست
پیوسته باد رونق این رایت بلند
تاچرخ‌را بسطح‌زمین طرح اعتلاست

ایشان: نوم ئې حقداد اوشهرت ئې ایشان بابا خواجه دی په‌سنگچارك نومی‌ځای کې زېږیدلی په‌شعر په‌تېره بیا په هجو کې‌ئې مهارت‌لاره اودوه دیوانه‌ئې په شعر کې بشپړ کړیدی په ۱۳۴۷ه ق کال په‌مزارشریف کې مړشو . غه څو بیته دده دهجو یې قصیدې څخه‌دی .

درین زمانه رفیقی که باعث خلل است
خطیب چشم سفیدی که مایهٔ ثقل است
بهر کجا که‌نشیند هزار فکر بدل
برای‌ختم وخدائی مدام در دبل است
بیك زمان نگری طی نموده صد کوچه
بفکر اینکه کسې‌مرده است یا کسل‌است
بدست کهنه قلمدان و در کنار کتاب
بدل یقین کند هر که صاحب عمل است
دوچشم او چو گودزد هر طرف نگران
بجای‌هر که‌درآیدچومرگ بی محل‌است
نخوانده بردر هر کس رود بیك ناگاه
فتاده دربی مردم همیشه چون اجل است
زبابه‌خواجه دوسه حرف یادگار بماند
درین زمانه که اونکته‌دان بی‌بدل‌است

الهی: ابوعمرمولوی عبدالودود خان چاه آبی او متخلص به «الهی» ؤ چه په ۱۲۹۰ه ق کال کې زېږیدلی دی دخپلو تحصیلاتو دبشپړ کولو دپاره هم موده هندته تللی او بهرته خپل هپوادته راستون شوی‌دی اوترپایه پورې په تدریس لګیاشو . په‌شعراوادبیاتو کې داناؤ اویو دیوان ئې هم لاره او په ۱۳۴۸ه ق کال کې مړشو داغزل دده‌دی .

غزل

الا یاایهاالساقی بمن ده جام صهبارا
که‌زنجیرخردرا بگسلم بیرون کشم پارا
روم مجنون صفت هردم بشوق نافهٔ لیلی
درو دیوار را بوسم بپویم راه صحرا را
ازآن روزیکه نوشیدم زآب‌لعل‌جیوانش
بهار ستان معنی مینمایم آب مینا را
شراب‌آباد امکان حاجب واجب نمیگردد
کجاآن موج میپوشد سراسرعین دریا را
«الهی» سیرجانان‌را بقیل وقال نتوان گفت
بنیرنگ وفسون نتوان بدام‌آورد عنقارا

سعدالدین : یولهلو یو پوهاندو اوشاعرانو څخه دی او په ۱۲۵۲ کال کې زېږیدلی دی . دی پرته‌لدې‌چه په‌عربی اودینی پوهنو کې دډېروژورومعلوماتوخښتن ؤ په‌فارسی‌اوعربیوژبو کې

یولوی شاعرهم وۀ. دی‌څه‌موده دهرات نائب‌الحکومه او یووخت دافغانستان‌لوی قاضی القضات هم‌وۀ په۱۳۴۸ه‍ ق کال په کابل کې‌مړاو‌په‌شپو کیو کې ښخ شو دده شعرونه زیاتره په عربی‌دی فارسی‌شعرهم‌لری اولسکه‌چه‌دده له‌یوتخمیس څخه څرګند پېژی په‌شعر کې‌ئې «طالح» تخلص‌کاوه یدغه لحاظ کې دده دوه بیته له‌عربی‌قصیدې اودحافظ پرغزل بادې دده د مخمس یوځو بنده په‌فارسي قیدشول :

الحمدلله الذی قد کان فیاض الامم
منحی‌الخلایق‌خاصةفی کل مایقضی نعم
صلو اعلی‌خیرالورا و آلال‌اصحاب‌التقی
مع صحبه ساداتنا ما لاح ضوء من ظلم

دحافظ پرغزل باندې دده دمخمس څخه انتخاب

دشمن‌ازجنگ من و دوست چه گردی د لشاد
در تغییر بوداین معرکهٔ کون و فساد
که بیك‌چشم زدن میشودعکسش ایجاد
شکر ایزد که میان من و اوصلح افتاد
حور یان رقص کنان ساغرمستانه زدند

«طالح»ازشعر تو باشدهمه‌چون‌درخوشاب
کی توانی‌غزل عارف‌شیراز جواب
چو شنا نیست ترا پای منه در گرداب
کس‌چو حافظ‌نکشیدازرخ اندیشه نقاب
تا سرزلف‌سخن را بقلم‌شانه زدند

ادیب پېښوری : سیداحمد دشهاب‌الدین مدعو سیدشاه‌زوی په ۱۲۵۵ ـ ۱۲۶۰ کال د پېښور په‌ښار کې وزېږېد . په‌کابل غزنی ، هرات وګرزېد اویا دمشهد خواته ولاړ . او فلسفه ، حکمت ، ریاضی، منطق ، اوادبی پوهنې ئې زده کړلی او په ۱۳۰۰ کال کې دتهران خواته رهی‌شو . دده له‌آثارو څخه‌هغه څه‌چه په‌لاس کې دی‌دادی : دقصیدو اوغزلونو فارسی‌دیوان . عربی قصیدې، دناصر ددیوان په‌تصحیح کی رساله نقد حاضر ، د« قیصرنامې) په‌نامه مثنوی ، دشیخ الرئیس داشاراتو ترجمه ، اودبیهقی دتاریخ تصحیح اوتحشیه .

د کلام نمونه :

غزل

ساقی بیاو در گهٔ میخانه باز کن
مطرب تونیز پردهٔ مستانه ساز کن
طرزغزل‌رها کن‌وحکمت طراز باش
بشنو زمن حقائق وترك مجاز کن
چون موسی کلیم ز پستان مام‌نوش
شیر و ز شیر دایهٔ بد احتراز کن
آزو فریب د شمن ناموس عا لمند
نفرین بربن دودیو بجای‌نماز کن
مرگ‌پزشك‌به‌چوشوددردتن ستر گ
جان بازوبر گ‌ارروازمرگ‌ساز کن
نازو نیازقسمت معشوق وعاشق‌است
درپیش دوست آنچه توانی نیاز کن
ای‌مهربان‌شبان‌و کشاورزبرده رنج
غافل‌نخفت‌ودیده نشیب و فراز کن
پر خون‌دل‌ازسپهرم‌واب‌بسته‌ازگله
یارب‌تو نطق‌بسته‌ام ازلطف‌باز کن

( ادیب پېښوری‌دې ولیدل‌شی)

قاسم : نوم ئې سید محمد قاسم اود سید هاشم زوی‌اوپه ۱۲۹۶ه‍ ق کال دپنجشیر په‌خنج کې‌زېږېدلی‌دی.دلومړنیو‌تعلیماتو دپښې‌نیا دباره دبخارا خواته تللی اوبه شعر اوادبیاتو کې‌ئې هم برخه لرله اوبنه شعرونه ئې ویلی دی . خینو ئې مړینه په ۱۳۵۰ه‍ ق کال کې ګڼلې‌مګر څرنګه چه دې په۱۲۹۶ه‍ ق کال کې زېږېدلی اوځان عمر ئې لږلی دی نو باید دهغه مرګ‌به۱۳۴۶ ه‍ ق‌کال‌دپنجشیر‌په‌خنج کښې‌واقع‌شوی وی داغزل دهغه د کلام نمونه‌ده :

غزل

تبسم ازدو لعل‌ای شکر گفتارمی زیبد
نزاکت در کلام نازکت بسیار می زیبد
اگرچه‌زیب دارد چین‌زلف‌اندر بنا گوشت
پریشان چین گیسویت بررخسار می‌زیبد
رخت گل عارضت‌سنبل لبت‌چون‌مل‌زبان‌بلبل
به این‌خوبی‌چو بخرامی‌سوی گلزارمی‌زیبد
اگر حرف مکرر طبع را آشفته میسازد
دهدشنام اگر آن گلبدن صدبار می‌زیبد
زمن سوزو گدازو زارو نالیدن بودزیبا
ترا جوروجفاای‌شوخ‌شیرین کار می زیبد
زنالیدن مکن‌بس«قاسما» گر بلبل‌زاری
بلی اربلبل زاراین چنین گفتار می‌زیبد

ثاقب : میرزا غلام حسین د حسن علیخان زوی په ۱۱۲۲ قمری (۱۲۶۲ ه‍ ق) کال کې وزېږېددعصر مروجه وهنې ئې‌زده کړلې اوپه‌ادبی‌علومو کې‌ئې هم لاس‌وموند لسکه څرنګه‌چه‌په نثر اونظم کې دقدرو آثارلری. دده له‌منثورو اثارو څخه‌یو انوارمحمدی په‌دوه‌ۀ کو اوبل‌ئې سیر الشهادتین په درې‌توکو کې‌دی اوله‌نظم څخه‌ئې یوبشپړ دیوان‌دی چه دنظم ټول‌قسمونه پکښې‌شته‌دی‌په۱۳۴۵ ه‍ ق‌کال په کابل کې‌مړشو. دادی‌دمثال به‌تو ګه‌دده دحمد یې‌قصیدې څخه یو څو بیته‌را نقل‌شول :

یاس بیحد ثنای بی‌عد سزد بذات خدای یکتا
رحیم‌وراحم قدیم‌وقایم علیم‌وعالم بصیرو دانا
زصنع‌قدرت بکلك‌حکمت بلوح‌هستی کشیده‌صورت
زعرش‌فرش وزجن انس‌وزنار نوروززشت‌زیبا
زهی‌قدیری که‌چرخ گردون بمشعل مهر کند منور
کشد چوازشرق سرارادت بغرب تابدشعاع بیضا
غرض‌زهستی‌زطاق‌افلاك،زعرش‌وفرش‌وزکرهٔ‌خاك
برای ذات امین‌لولاك نمود ایجاد بطرح‌زیبا
بر انبیأو همه مقدم طفیل ذا تش وجو د آدم
مؤ خر آمد بنقش خاتم گرفت سبقت بکل اشیا
بسر زلولاك نهادچون‌تاج گرفت‌ذاتش بماسواباج
کسی‌ندیده که‌درشب‌داج‌طلوع‌خورشید براهل‌دنیا

رحیمی : مرزا عبدالرحیم«رحیمی» د عبدالغفور سره رودی زوی د ۱۴ ییړی د لومړی نیمی‌له‌شاعرانو څخه‌دی دده زېږنده ننګرهار په‌سره رود کې واقع‌شوې‌ده. له‌لومړنیو تحصیلاتو اوپه رسمي چارو کې دیوځو وخته اشتغال نه وروسته د مزارشریف خوانه تللی اوهلته ئې‌هستو ګنه غوره کړه . له‌ادبیاتو سره‌ئې ذوق لاره اوله زیاتو معاصرو شاعرانو څخه مخکې ولاړ . دغه لاندی غزل ئې دجلال آباد د مسزار خواته دخیل لېږدنې په مناسبت ویلی‌دی .

غزل

عندلیب مستم و سوی گلستان میروم
با هزاران ناله‌و فریاد و افغان میروم
باو جود آنکه من طیر هوائی نیستم
مرغ دست آموزم‌وازدست‌طفلان میروم
بی کس‌و بی‌یاوروبی‌مرکب‌و بی‌مشت‌زر
نقدحسرت در کف‌و با-نس حرمان‌میروم
نیست لغمان وجلال آباد و بولانم بکار
من ببزم خا کبوس شاه مردان میروم
یاك رفیقم باد آه‌ودیگرم باران اشك
من رفیق خویشم وبابادو باران میروم

ملك‌الشعراشیراحمدخان : شیراحمدخان مستی‌خیل ننګرهار له‌سره‌رود څخه‌دی ، وروسته دعصر د مروجه پوهنو له‌زده کړې نه‌ئې‌په ادبیاتو ویلو کې او مهارت‌ئې پکښې وګاته . ده دامیر حبیب‌الله‌خان په دربار کې لیار ومونده اودملك الشعرائې رتبې ته‌ورسېد . دده‌له‌چاپ‌شوبو اشارو څخه‌یوهم‌دحضرت پیغمبر (ص) د معراج شرح ده چه‌په هند کې چاپ کړی شوه او بل دده دنجم‌السعادة مثنوی‌ده چه‌دیوې‌برخې غزلونو ،پارکیو (قطعاتو) بوللو (قصائدو) او مخمساتو سره په ۱۳۲۶ کال په هند کې چاپ‌ته ورسېده .دغه‌غزل‌دده‌د کلام‌دنمونې‌په‌حیث دلته ولیکل‌شو.

غزل

مرا ازدرد عشق اوست مشکل حالتی بر جان
چه‌حالت حالت زحمت چه‌زحمت زحمت حرمان
زجوش هجر او دارم بکانون جگر سوزش
چه‌سوزش سوزش آتش چه‌آتش‌آتش هجران
دلم همر یست کزتیغ جفای او شده بسمل
چه‌بسمل بسمل خنجر چه‌خنجر خنجر مژگان
نشسته ناز نین من بتخت حسن چون خسرو
چه‌خسرو خسرو کشور چه کشور کشورخوبان
بود در مصر خوبائی وجود او یکی یوسف
چه‌یوسف یوسف ثانی‌چه ثانی ثانی دو ران
بقربان سرش دارم همیشه ریزش گوهر
چه گوهر گوهر دیده چه دیده دیدهٔ گریان
کشم هر صبح از سوز فراقش آه وهم ناله
چه نا له نا لهٔ سینه چه سینه سینهٔ بر یا ن
خوش‌آنساعت که‌پیك اورساند سوی‌من‌مژده
چه‌مژده مژدهٔ وصلت چه‌وصلت وصلت جانان
زحق«شیراحمد»مسکین کندوقت‌سفر خواهش
چه‌خواهش خواهش‌دولت چه‌دولت‌دولت‌ایمان

☆ ☆ ☆

سردارعزیزالله‌خان «قتیل» : عزیزالله‌خان دسردار نصرالله‌خان زوی په ۱۳۱۰ هـ ق کال په مراد خانیو کې ز ېږ ېدلی دی . په‌وړوکتوب کې په زده کړه لګیاشو اوپه۱۲کلنۍ ئې په‌شعر و ویلو پیل وکړ .

دیلار ادبی مرکو اومجلسونو دده شعری قریحه وخوزوله. شعر او ادب ، صرف اونحو ، بلاغت اومنطق ، فقه او کلام ئې زده کړل‌اوپه‌فارسی‌اوعربی‌ادب کې بیاوړی‌شوده په۱۳۵۲کال کې‌دسل‌دناروغۍ له کبله له ژوندنه‌ستر ګې‌پټې کړې دشعرونو دیوان ئې چه‌لا تراوسه ندی چاپ شوی دده‌له زوی سره شته دا غزل دده دی :

غزل

گلستان برگ گلی ما ند آ نروهم نداشت
همچو آن‌مو مشك ازفرناف آهوهم نداشت
ای کمان ابرو باحوال شهیدی رحم کن
کونشانی از خد نگ تو به پهلو هم‌نداشت
جستجو کر دیم اطراف چمن را همچوآب
بو ستان سروی بما نند قداو هم نداشت
دوش‌میزد درچمن سنبل ز رنگ خویش‌لاف
خوب دیدم بیش گیسوی کسی‌بوهم نداشت

ماه با حسنش همیز د دو ش لاف همسر ی
بارخ او چون مقابل کردمش روهم نداشت
بهلهٔ او با ز بان حال گـوید ابـن سخن
نا ز کیهای میا ن یـار را مو هم ندا شت
ازغمش دیوا نـه گـشتم کرد از بندم رهـا
گـردن مـالایق زنجیر گیسو هـم نداشت
باز این قلب حز ینم را«قتیل»آن مه شکست
آخر این آئینهٔ ما با ب زا نو هم ندا شت
«قتیل دی و کتل شی »

مستغنی : عبد العلیخان بن ملارمضان خان بن دملاقضاة بن ملارسولدادهونك په١٢٩٢ه ق کال د کابل په بالا حصار کـې زېږېدلی دی . دهلهخپل پلار محمه منطق ،زړه فلسفه، تفسیر ، فقه، حدیثونه ، د کلام علم او ادبی پوهنې زده کړلې . دی په فارسی او پښتو دواړو ژبو یو بیاوړی شاعردی .

مستغنی بدې وروستیو کې د کابل دادبی انجمن غړیوؤ ترشوچه په١٣٥٢ه کال په کابل کې مړ او په شهدای صالحین کې پښخ کړی شو .

مستغنی یو بر بر دیوان لری چه تراوسه لا ندی چاپ شوی . دده دغه غزل دنمونې په حیث دلته وکتل شوه :

غز ل

بهار شد که دهد نرگست بچنگ پیاله
دگـر چو لاله دهد از میان سنگ پیـاله
چمن بهشت شو د د ور می حلال بز اهد
کنون نه عار بود می کشی نه ننگ پیاله
بهارشد کـه دگر غنچه را گـره بکشا ید
بهار گشت کـه گل رازند بر نگ پیـ له
هوای ابر فرو شو یدت غبـار ز خا طر
دلت چو آئینه صافی کند ز زنگ پیاله
چوسبحه بسکه بسر گشتگی فتاد ز دستم
شدا ز تسلسل دو رمیم بتنـگ پیا له
ز شو ر نشه مستی رود بـکو ه همیشه
کـشیده بسکه زداغ جنون پلنگ پیا له
درین بهار رود هریکی زخویش برنگی
دل شکسته کـند ناله و ترنگ پیـا له
زکیف ونشهٔ اوهام سر خو شند خلا یق
کشیده دست بسر هریکی ز بنگ پیاله
کنون چو محفل دیوانگان مجلس طفلان
یکی ز دست ودیگر میکشد بچنگ پیاله
نشد بقطر ه چو مستغنیم خما ر تسلی
کشد زکاسهٔ گردابم این نهنگ پیاله
(مستغنی دې و کتل شی)

محمود «طرزی» : دافغانستان دغور لسمې پوهې دلوم ی نیمې د لیکو الو مشر دی چه یو آفاقی شهرت لری . طر زی دغلام محمدخان طرزی زوی. چه په١٢٨٥ه کال په غزنی کې وزېږېد او په١٣٥٣ه ق کال ئی داستامبول په ښار کې لدې فانی نړۍ سره وداع و کړه . محمود طرزی دادبی نهضت جوړونکی اود وطنیت اوملیت د شعورراوړونکی دی اوددې مملکت دترقی غوښتونکو دویاړنې مایه ده .

(محمود طرزی دې و کتل شی)

عبدالرسول خان«رسول»: عبدالرسول خان دسردارعبدالله خان زوی او دسر دار سلطان احمد خان لمسی د١٣١٨ه، ق کال په شاوخوا کې زېږېدلی دی . کلهچه امیرعبدالرحمن خان پر تخت کښېناست درسول کورنۍ ئې ایران ته ښمید کړه چه رسول هم پهوړوکتوب کې لهخپلې کورنۍ سره ؤ . او ورو سته لهځه مودی له ایران نه د هند خـو اته و لاړل نـو لـکه ر سول پهدرې واړو ژبو یعنی فارسی، پښتو، اواردو کې لوی لاس لاره او کولای ئې شو چه شعرووائی . دهپه فارسی شعر کې ښه قریحه او عالی طبعه لر له .

دده داشارو کلیات دده له وروستیو پاتی کسانو سره شته دی دامیر حبیب الله خان دبا چاهی به دوهم کال کې خپل هېواد ته بېرته راستون شو . اوددولت پهرسمی چارو کې ئې مشغولیت لاره .ترهغو چه په ١٢٥٣ ه ق کال پهمند کې مړشو .

داغزل دهغه ده :

غزل

تا زروی شاهد گل پرده برداردبهـار
از زمین تاآسمان یك چشم تر دارد بهار
از جگر تادیدهٔ بلبل فقط یك مجمراست
لوحهٔ ار ژ نك حسن شعله ور دارد بهار
فرصت عمراست کوته دامن گـلزار تنگ
خرمن سال نو اندر پشت سر دارد بهار
خاك شو تاغطه درحسن گلستانت دهند
خاکساران را همیشه گل ثمر دارد بهار
سوخت غمهای خزان بـرانش رخسار گل
زآتش غم آتش سوزنده تر دارد بهـار
تابهار حسن جانان دیده درسوداست غرق
داغ حسرت دردل ودوران سرداردبهار
شهپر فریاد بلبل شعلهٔ روی گـل است
مجمر رخسا ره های پر شرر دارد بهار
شش جهت پیچیده اندر شعلهٔ بیداد حسن
قلهٔ آتش فشان از هر شجر دارد بهـار

رعدو برق وابر پیش عارض دلسوز یار
نعره از سوز دل و دود جگر دارد بهار
موج گل درخامه ام جریان سیل آتش است
ای «رسولا» در دلم زنگ دگر دارد بهار
(رسول دپی و کتل شی)

ادیب فراهی : محمد یعقوب د ملامحمد خان فراهي زوی په ۱۲۸٤ کال کې ږېښدلی دی .دعلومو مبادی ئې په فراه کې زده کړی اوبو وخت هرات ته ولاړ مګر څه مو ده ورو سته بېرته راستون شو . سردار نصر الله خان دی کابل ته و غو ښت او پخپل ادبی مجلسونو کې ئې ورته موقع ورکړه . فراهی یولوی لیکوال او شاعرؤ او ډېر اثارئې په قلم کښلی دی دده داثارو لهجملې څخه د فراه رهنما ، تذکرهٔ آتش فشان ، گنج شهیدان اودیرهٔ یعقوب دی چه قلمی نسخ ئې تېنو خلکو سره شته دی په شعر کې هم بیاوړی ؤ . مړینه ئی په ۱۳۵٤ه، ق کال کې ښېښه شوېده .دغه عویښه دکابل دفتح به نسبت دده له قصیدې څخه دی :

شکر لله ملك را الطاف سبحانی گرفت
از یمن یعنی جنوب انفاس رحمانی گرفت
آمد از فضل خدا در نهر شاهی آب بخت
باز احمد شاه ثانی تخت درانی گرفت
شکر لله کز عنایات خداوند جهان
شاه نادرخان غازی ملك اسلامی گرفت
تازه شد جان های ملت از بهار بخت شاه
در دماغ جمله ملت نشهٔ خانی گرفت
بود با بختش سعادت کز یمین واز یسار
شیوهٔ تبریك رارومی و برتانی گرفت
برجهان تابید نور دولتش خورشید وار
کار این کشور زظلمت طرز نورانی گرفت
چون بهردل بود برجا این نشست خسروی
زین بشارت ملك وملت خط عرفانی گرفت

مهجور «کابلی» : عبدالستار مهجور په ۱۲٦۲ه، ق کال په کابل کې و زېږېد . په کابل کې ئې صرف او نحو ئې زده کړه اوقرآن کریم ئې یادکړ . وروسته هندته تللی په ډېلی او بمبئي کې ئې دفقه علوم ، دحکمت اصول ،منطق ، او فلسفه زده کړې بیابېرته هېوادته راستون شو او ادبی پوهنې ئې هم زده کړلې اوپه شعر کې ئې داسی شهرت وموند چه دده نورې علمی خواوی ئې ترشعاع لاندی کړلې . منظوم اومنثور اثارئې په یادګار پرېښودل چه لهغو څخه دغه لاندې کتابونه دی :

داشعارو کلیات، مصباح المنیر ، سیاحت الهند ،دیوسف زلیخا منتخبات ، بزم وصال ، دبخارا بلوا، گلشن خیال ،مکتب عشق، ستارهٔ اقبال، دمزاراتو رساله، شمس الایمان ، دسعدی پر کریما مخمس، مجلس آراء .

مهجور په ۱۳٤۵ ه، ق کال کې په ستر گو پوند شواوپه ۱۳۵٦ه،ق کال کې مړشو. دغه غزل دده له شعرونو څخه ده :

غزل

مرا امشب ز صهبای محبت هوش می آید
بگوشم هرزمان آواز نوشانوش می آید
زبس کفران نعمت میکند هر کس نمیداند
که رزق عالمی زافلاك بی سر پوش می آید
زبس مستانه افتادست موج جلوه ش چون گل
بچشمم قامت رعنای او گلپوش می آید
کلام هر کسی پست و بلندی دارد از فطرت
چو ناله هر قدر بالا رود تا گوش می آید
بیاد آن بت لیلی فریب خویش حیرانم
که از طرح خرامش خون دل در جوش می آید
بهمت برده ام ربط سخن ازهمگنان امروز
لباس نظم من زآنرو چو مخمل بوش می آید
بیاد چشم مستش مانده ام مهجور در حیرت
که از خلوتسرا در گلشن آغوش می آید

( مهجور دپی و کتل شی)

سردار عبدالرحمن خان: سردار عبدالرحمن دسردار عبدالوهاب خان زوی چه زېږنده ئې په کابل ۱۲٤۹ هجری شمسی برابر په (۱۲۸۹ قمری ) په فراه کې شوې ده . دسیاسی ایجاباتو په بناد خپلې کورنۍ سره دایران او بیا دهندخواته تللی اوخپل تحصیلات ئې په دغو ښارونو کې شپږ کړی دی اوانګلیسی اواردوژبې یې زده کړې او دامیر حبیب الله خان د پادشاهۍ په دوهم کال بیرته خپل هیوادته راغی اوبه رسمی چارو بهلګاؤ . په ۱۳۱۳ شمسی کال (۱۳۵۳قمری)په فراه کې مړشوی دی یوخو ش قریحه شاعرؤ منثور اومنظوم آثار زیاتلری که څه هم چه دده د آثارو مجموعه د ۱۳۰۷ شمسی کال په انقلاب کښې له منځه ولاړه خو بیاهم دده تیت او پرك شعرونه شته دی . داغزل دده دی :

غزل

مقدم فصل ربیع باز جهان بستان کرد
راغ را از گل وازلاله نگار بستان کرد
بسکه گل جوش برآورده زاطلال ودمن
فرق صحرا ودمن هیچ کسی نتوان کرد

گشته از نکهت گل بسکه هوا غالیه دار
هر نسیمی که وزد گوئی عبیر افشان کرد
بلبلان ازسرمستی همه لانقنطو اخوان
هر که او بی ومی معشوق بودعصیان کرد
فـاخته نیـز بیادقـد دلـجوی نگـار
برسرسرو بصد سوز جـگر افغان کـرد
جمله مخلوق بطرز دگر و وضع دگر
بهر شکرانهٔ حق زمزمه والحان کرد
شاعران نیز بی وصف چنین موسم خوش
هر یکی نظم سخن همچو گهر غلطان کرد
ولی آن شاعر شیرین سخن نا دره گو
گـفته شعری که سزد گر بزرش افشان کرد
گو یمت فرد ولـی تا بشود معلـو مت
کان سخنور بچه اسلوب خوش عنوان کرد

« موج گل ازسر دیوار چمن شدلبریز
کشتی باده بیارید که گل طوفان کرد»

میر محمد علی آزاد : د«آزاد» عنوان تهدې مراجعه وشی .

**گوزك** : د«اسمعیل سیاه» عنوان تهدلا مراجعه وشی .

قاری: ملك الشعرا عبدالله خان متخلص به«قاری»دحافظ قطب الدین زوی په ۱۲۸۸ قمری کال(۱۲٤۸ شمسی) په کابل کې زېږېدلی دی. زیات تعلیمات ئې له حافظ محمد غوث او حافظ محمدعظیم خپل نیکه اوتره څخه زده اوقرآن عظیم الشان ئی یاد کړ په فقه ، تفسیر ، حدیث ، تجوید ، اصول ، صرف نحو ، منطق ، فلسفه معانی ، بیان ، بدیع ، عروض ، قافیه ، نقدالشعر او په نورو ادبیه علومو کی دبرخی عینتوڼ . دادبیاتو په تاریخ پوهیږی او دهغه پهسبك اودهغه دشاعرانو په احوال څه پوهیده او یوه څه تذکره ئې هم پهدغه باره کی کښلی ده .

دژوند تر پایه ئی به رسمی چارو اشتغال لاره . په کال ۱۳۱٤ کی دملك الشعرا ئی په لقب مفتخر شو . قاری به نظم او شراود کتابونو په ترجمه کی لوی لاس لاره اوغوره آثار ئی پرې ایښی دی . په شعر کی دهند سبك پیرودی . دده دغزلونو دیوان یو وخت په ۱۳۰۲ کال کی چاپ تهورسید.اوکلیات هم لری. وفات بی په ۱۳۲۲ شمسی (۱۳٦۲) واقع شو . دهغه دغه غزل ثبت شو :

غـزل

بداغ لاله رخان جان بیقرارم سوخت
فغان دراین گل آتش که مشت خارم سوخت
بزیر خاك چنان زار و بیـکـس افتا دم
که داغ گشت دل شمع وبرمزارم سوخت
بباغ رفتـم و گـر دید لاله داغ دلـم
فغان که بی گل روی تو نوبهارم سوخت
نظر زروی عـرقـناکـت آب میـدا دم
نگاه گرم تو نا گـاه جسم زارم سوخت
بغیر داغ مـجـو ئید حـا صلـی از مـن
چه نخل شعله دربن باغ برگ وبارم سوخت
بهر نهال کـه بینید حـا صلـی دا رد
در بن حدیقه تهی دستی چنا رم سو خت
چرا ز حرف خنك بس نمیـکنی نا صح
دگر دماغ شنیدن که من ندارم سو خت
نوای سو ختـگـان میزند بـدل آ تش
زسوز شعلهٔ آواز خـود هـزارم سو خت
هـوای وا دی الفت سـمـو م خیـز بو د
نفس بسینهٔ این دشت شعله بارم سو خت
سخن زچهرهٔ گرم که میکنی « قاری »
که حرف سوزو گداز توشمع وارم سوخت

( قاری عبدالله دې و کـتل شی)

نادم : حاجی محمدیحیی نادم دآخند زاده ملاسعید احمدزوی اودخلیفه ذکریا جمشیدی لمسی په ۱۲۹۰ هـ ق کال کی وزېږېد. په اصل کی دهرات له باغیسانو څخه ؤ دمیمنی په السار کی ئی ودنه اوروزنه ومونده . دینی اوادبی بوهنی ئی زده کړې او دخپل وخت له پیاوړو اودشاعرانو څخه و گټل شو . نادم دمیمنی دزلمیانو او ځوانانو په تعلیم اوروزنه کی د قدرورخدمت کړی اواوس هم دده میوه دهغه ځای دادبیانو په زړو کی ځای لری نادم یودیوان لری چه چاپ شوی اود هیواد په مطبوعاتی جوړښت کی ئی نمره اخیستی ده د۷۹ کلو په عمر په کال ۱۳٦۷ هـ ق کی مړ شو دغه غزل دده د کلام نمو نه ده :

غزل

کیم در ملکی هستی مشت خاك رفته بر بادی
زیاران کس نسا زد جزفراموشی مرا یادی
جنون عشق طوفان ریخت بر بنیاد آسا یش
بملك عافیت ور نه نه مجنون بود وفرهادی
همه گرمرغ دل جبریل گردد کی رهد حاشا
چنین کز زلف وخال افگنده دام ودانه صیادی
بتعمیر دل ما غیر یأس آخر که بر دا زد
که یابد این بنا از آفت بشکستن آ با دی
سیاه غم سیاهم کردروز ،ای ناله شبگیری
فراق افگند دردل آتشم وی اشك امدادی

شهید عشق بسیار است در کوی و فا اما
چومن کس نیست بسمل انتظار تیغ جلادی
زداغ دل زاشك دیده کن زآه جگر نادم
تماشای گل و آب روان وسرو آزادی
(نادم دپي و کتل شي)

نادم رستاقی : نوم ئی عبدالروف اودمیرزا محمد عمرزوی په کال ۱۲۶۲ کی زپزېدلی دی او دزده کړې دپاره بخارا ته ولاړ وروسته له فراغه په ۱۳۰۹ کال کی بېرته خپل هیواد ته راستون سو. په منطق ، حکمت ، اصول ، فقه ، ادبیات ، تاریخ او تصوف کی ئی لوی لاس لاره. عمومودې ئی دقضا منصب هم درلود. او په ۱۳۵۷ هـ ق کال کی مړشو. داغو بیته دده دی :

فرد

برزمین زد همچو اشکم چرخ وتو بر داشی
آسمان ریزد چو شبنم زود گیرد آفتاب

ولـه

هر که آمد بجهان نقش ندامت دارد
لیك چون نادم مانیست پشیمان هر گز

یمگی : نوم ئی شاه عبدالله اودمیرمحمدسیدخان بدخشی زوی دی په ۱۳۳۰ هـ ق کال د بدخشان په جرم کې زپزېدلی او وروسته له لومړنیو تحصیلاتو دغازی په لیلیه ښوونځی کې داخل او تحصیل ته ئې ادامه ورکړه . شاه عبدالله په ۱۳۴۸ هـ ق کال په رسمی چارو کې داخل شو او تر پایه پوری په رسمي وظائفو لګیاؤ. په شعر کې ئې یمگی تخلص کاوه چې اثار لری . په ۱۳۶۷ هـ ق کال کې دسل دناروغی له کبله مړشو . داغزل دده دکلام نمونه ده :

غـزل

غمت سر آمد آلام دلفگا ری من
خیالت آئینه پرداز بیقرا ری من
لب تو چون برقیبان شد آشنای سخن
رسید تابه ثریا فغان وزا ری من
رسید جان بلب ازذوق لعل خاموشش
به پیش او که بردعرض جان سپاری من
وفا پرستی عشاق را فسانه شمرد
بیاسدار جفای تو پای داری من
رسید دور ظهور خط جها نگیر ش
رمید از قفس تن دل شکاری من
(بدخشی دپي و کتلاشی)

بلبل: نوم ئی سیدکاظم اودشاه بقازوی دی په ۱۳۱۱ هـ ق کال په سنګلاخ نومی ځای کې زپزېد اوله خپل کهول سره په وړو کتوب کې کابل ته راغی . دینی علوم ئې زده کړل او اودتحصیل دپاره ایران ته ولاړ . وروسته دتحصیل له اکمال څخه دامیرحبیب الله خان دسلطنت په زمانه کې بېرته خپل هیواد ته راستون او په تدریس لګیاشو په ادبی علومو کې ئې هم پوره لاس لاره او په شعر کې ئې روانه طبع در لوده . یردیوان لری چه دشل زره بیتونو په شا و خوا کې شته او قلمی نسخه ئې دده له وروستو پاتې کسانو سره موجوده ده . مړینه ئې په کال ۱۳۶۴ هـ ق کې واقع شو هده . دغه څوبیته دده له یو هوارلس بیتیز غزلې څخه انتخاب شول .

غـزل

توای سرو سهی قامت که از نسرین بدن داری
ز گل ناز کتری بارب که از گل پیرهن داری
نسیم صبح صادق را اسیر زلف خود کردی
مگر در خلقهٔ مو نافهٔ مشك ختن داری
عجب بدر شب قدری که از انظار پنها نی
گهی در دیده میگردی گهی در دل وطن داری
بهاراست و به گلشن بلبل و گل انجمن دارند
قدم کن رنجه گر میل تما شای چمن داری
بهر جشنی که بنشینی قیامت ها بپا سازی
بهرقرنی که برخیزی دوصدویس قرن داری
شبی با غمزهٔ بدمست شوخ فتنه ئی گفتا
مگرای شوخ شهراشوب قصد جان من داری
بصد ناز و اداشوخی نمودو گفت ای «بلبل»
مهیا تخته وتابوت و کا فورو کفن داری

☆ ☆ ☆

نسیم : نوم ئی حفیظ الله تخلص په «نسیم» دسردار شیرعلی خان له اولادی څخه دی په شعر کې ئې مهارت لاره. په ۱۳۶۶ هـ ق کال کې ئی یوه برخه دخپلو غزلونو څخه له دوه مخمس دوه رباعی او یوفرد سره په یوه مجموعه کې کښلی او له خپلو دوستانو څخه

یوه ټه‌ئی اهدا کړې‌چه‌اوس هم‌شته‌ده . دمړینې نیټه‌ئی شرګنده نشوه ښائی چه‌لس کاله پخوا به مړشوی‌وی داغزل‌دده دی

غزل

دام زلف‌ازخال مشکین بهرصیدم دانه ریخت
جادوی چشم تو آب روی این بتخانه ریخت

مامریدان در طریقت پیرو پیر خودیم
شیخ ما ز ناربست وسجهٔ صد دانه ریخت

کوکب بر گشتهٔ بختم منجم کی شناخت
خاك برفوق همایم چند هر و یرانه ریخت

هستی مو هو می ما از عدم سوی وجود
اندرین دیر فنا از بهر آب و دانه ریخت

قامت خم گشتهٔ پیران بچشم کم مبین
بر تواین گرد مذلت خواهد این کاشانه ریخت

دامن پیر مغان باید گرفت از راه صدق
آبروی خود نباید بردر هر خانه ریخت

میتوانند ازقبول ورد خلق ایمن شود
هر که اسباب تحمل بردر میخانه ریخت

عاقبت سرمنزل ماتاچه خواهد شد «نسیم»
عشق آتش زد بشمع وبسر، پروانه ریخت

☆ ☆ ☆

عیشی : مولوی عبدالله «عیشی» دسلامحمد شفیع زوی دی . د ۱۳۰۰ هـ ق کال په شاوخوا دقندهار په‌ښار کې زېږېدلی‌دی. په فارسی اوعربی ادب کې ئې لوی‌لاس وموند ، په تصوف، فقه اوحکمت کې ئې پوره معلومات لرل . ده کله چه هم په آزادو مشاغلو اشتغال لاره لکن په ۱۲۹۸ کال په تاشکند کې دافغانی قونسلګری سرکاتب مقررشو وروسته له هغه مودې ئی له خپل دغه کار څخه استعفی وکړه اوبهرته خپل‌هیواد ته راستون شو . دیوان ئی له‌شیږ زرو بیتو څخه ربات بیتونه لری دعیشی اثار په لاندې ډول دی :

باقیات الصالحات (یاداولیاؤ مشاهیر په ۱۳۴۶ کال په لاهور کی چاپ شوی دی )

دعای مستجاب چه‌اوراداودعا ګانی لری (دلاهور چاپ ۱۳۶۰ ) باغچهٔ عیش دانشأ به‌موضوع کی (هند چاپ) تبغ برهنه ، نخلستان ونګارستان، شیرین مجلس اوسفینهٔ حکمت چه چاپ شوی ندی .

دی په ۱۳۷۳ کال کی دحج خواته ولاړ او په مکهٔ معظمه کی مړشو اوپه هغه‌ځای کی ښخ کړی شو . دغه څو بیته دده ددعای مستجاب څخه نقل شو :

دی صفاتت عقل کل را از بیان انداخته
وصف ذاتت نطق مارا از زبان انداخته

کنه ذاتت فکرها را دیده ها بردوخته
طائرو هم‌و خرد از آشیان انداخته

کلك حکمت از دوعالم نقش‌صنعت ریخته
حکمتت آوازه در کون و مکان انداخته

نقش بند خلقت از آدم خطا کی نژاد
عاقبت صد شورش اندر قدسیان انداخته

پرتو حسن جمالت جان عالم سوخته
شعلهٔ انوار جلالت در جهان انداخته

(عیشی دې وکتل شی)

گوهری : سیدصدیق خان‌دسیدعثمان‌خان زوی په ۱۳۰۴ کال هـ ق په بلخ کی زېږېدلی‌دی. عبدالرحمن‌خان دګوهری کورنی کابل‌نه‌وغوښته چه‌په چاردهی کی‌میشت شول‌مګر په ۱۳۲۳ کال کی دامیرحبیب‌الله‌خان به‌امر بیا دبلخ‌خواته ولاړل . ګوهری څه‌موده په‌مزار شریف کې دزیانو تحصیلاتو د پاره لګیاشو اوپه طب فلسفه، حکمت اوادبی علومو کې‌ئې نیه لیاقت وګاته. که‌څه‌هم چه‌زیات شعرونه‌ئې له‌منځه تللی خوسره لدې هم یو دیوان ئې پاتې‌دی‌چه دانه زره بیتو په‌شاوخوا کې لری او شاغلی خسته هغه‌ډوبن او تردیف کړی دی ګوهر دفارسی ، عربی، اوترکی ژبو په‌نظم اونثر کې پیاوړی‌وو په‌کال ۱۳۷۳ هـ ق کې صبح‌ته ولاړ اوبه‌مکه کې‌مړشو . داغزل دده دی:

غزل

بازدل یارب زشوق کیست درتاب و تب است
ناله سنتور او آواز یارب یارب است

طالع ماازچه روچون‌زلف‌جانان شد سیاه
روزعمر ماسراسرازازل گویاشب‌است

عمرها را دربی گوهر بسر آورده ایم
آنچه درعالم‌اگرنایاب شدآن‌مطلب‌است

طبع مردم ازطلوع صبح روشن میشود
روشنی‌طبع من ازخندهٔ زهر لب است

سیب وآبی شد مقوی دل آزاد گـان
نوشداروی دل عشاق سیب غبغب است

ترك دنیا کار هردون ولوند ولاده نیست
گر بدانز مذهب عشاق دیگر مذهب است

«گوهری» راسازشی بامردمان نیك وبد
از کمال بردباری وسعتی درمشرب است

بایدووبل شوچه‌پهدیارلسمه بهری یه‌تهره بیا یه خوار لسمه بهری کې افغانستان په‌ادبیاتو کې تر ۶۰ تنوشخه زیات نورشاعران هم‌موجودوۀ . چه‌مونږ دهغوداشعارو دلږوالی اویادهغو دحالاتو په‌شرح کې دمعلوماتو دنشتوالی په بنادروی له یادونې شخه ستر گې پتې کړې .

## دفارسی نثر څلورمه دوره

دغه‌دوره یه‌تهره بیا افغانستان په‌فارسی نثر کې دځینو په اصطلاح (دادب‌دفترت‌دُوره) ده .بدغه دوره کـې دادب دفتور اوزوال علتونه‌مخکښې مفصله ولیـکل شو . ددغې دورې دنثر مختصات‌دومره چندان‌شکاره ندی او څه‌چه‌ښـکاره دې؛ دلفظ اومعنی‌سادگی، لږپردیو ژبوشخه د آثارو ترجمه په تهره بیاله اروپائی‌ژبوشخه دځینوغربی لغاتو گډېدل او دجریده نگاری اوروزنامه‌نویسی رواجېدل او داسې نوردی .

هغه‌آثارچه‌بدغه دوره کـې تالیف او یا ترجمه شویـدی په‌لاندې‌ډول‌ی طریق الطالبین کـنز السلاطین ، سبیل الرشاد اونوردمیراحمدظاهر (۱۲۰۶- ۱۲۶۹هـق) له‌آثارو شخه . دغه لیکوال دشلواثرو په‌شاوخوا کې لیکلی دی .

حبیب‌القلوب اومجموعۀ خوارق دحسن علـی دوه اثره دی چه‌دی ددوست‌محمدخان له‌معاصرولیکوالوشخه‌دی .

لعل‌بدخشان‌یوه نیمگړې تذکره ده چه دمیر باربیگ‌خـان له‌خوا په۱۶۸۹شمسی کال کې تالیف شوېده .

معیارالاعتبار، شمعۀ بارقه،چهل‌مساله، شرح مقامات‌حریری حاشیۀ‌زیج‌الغبیگی محبت‌الهی او نور فارسی اوعربی رسائـل دحبیب‌الله‌قندهاری (۱۲۱۴ ـ۱۲۶۹) آثار مخ حدائق الحقایق شرح‌حال‌قیس، عامری، شهادت حسنین ، کـتاب البدیع، تحقیق اللغت‌اصول‌معاشرت دمیرمحمدنبی‌احقر دتکملة الـریاض شپنتن (۱۲۶۹متوفی) آثار .

دافغانستان آثاردسیاسی ، ادبی اواجتماعـی ستر شخصیت جناب‌سیدجمال الدین افغان ( ۱۲۵۴ـ۱۳۱۶) لـه آثارو شخه تتمة البیان فی تاریخ الافغان، البیان فی الا نکلیز والافغان، ردعلی‌الدهریین‌مقالات جمالیه،ضیاءالخافقین مجموعه اودعروة الوثقی مقالی اونوردی .

دافغانستان دوروستنیو پاچاهانو تاریخ اونور آثار له‌قلمه دیعقوب‌علی کابلی چه‌په۱۳۰۷هجری قمری‌کال کـی لیکل شوی اوپدې‌وروستیو کی د آریانا په‌مجله کې‌خپاره شوی‌دی .

دگلشن امارت کتاب دنورمحمدقندهاری اثرچه‌په۱۲۸۷کال کی‌تألیف‌اوپدې وختو کی د آریانا په‌مجله کی چپور شوی دی .

واقعات‌شاه‌شجاع یو کـتاب‌دی چه‌دړې‌دفتره‌لری چه لومړی اودوهم دفترئی یخپله دشاه شجاع سدوزی له خوا لیکل شوی اودریم‌دفترئی محمدحسین نومی هراتی تالیف او بشپړ کړی‌دی دغه‌اثرهم دافغانستان دتاریخ‌ټولنی له‌خوا د آریانا پـه مجله کی نشراوهم په۱۳۳۳کال کی دیومسنقل کـتاب په‌څپر چاپ شوی‌دی

بحرالفوائد دمحمدیوسف متخلص په«ایامی هرانی» اثر یولوی کـتاب‌دی چه‌دافغانستان‌دجگړو نکلونه پکښی شته،پخپله‌دمؤلف احوال اواشعارچه‌په ۱۳۲۰کال کی کښل‌شوی اوپه ایران کی چاپ شوی‌دی .

وعظ‌نامه پادروس اوعثمانی دجنگ و قائم‌چه عبدالقادر نومی‌په ۱۲۹۴هـ ق کال کی له‌انگلیسی ژبی شخه ترجمه کړی اودشیرعلیخان دزمانی‌په‌مصطفوی اوشمس النهار مطبعو کـی چاپ اوخپورشوی . شرح‌شهاب ثاقب چه‌پخپله دامیرشیرعلی‌خان له‌خوالیکل‌شوی اوچاپ‌شوی‌دی . کوم‌آثارچه دامیرشیرعلی‌خان دوخت‌په‌مطبعو کی چاپ‌شویدی همه دادی : دعسکری قواعدو یو کـتاب په۷۹مخو کی دذخیرة‌الملوك کـتاب دهغه له شرحی سره ، دفتاوی برهنه‌په نامه یو کـتاب ، دشمس النهارجریده ، دشمس‌النهار مجله‌چه دقاضی عبدالقادر بینوری‌په‌چنو نه‌اودمیرزا عبدالعلی‌په‌اهتمام‌دکابل‌په‌بالاحصار کښی‌په‌میاشت کی یویادده‌څلی په‌شیارلس مخو کی چاپېدله بهار بدخشان چه د بدخشان دتهرو اومعاصروفضلاؤ دحالاتوشرح ئی لـرله اومفـرح الاحباب چه دافغانستان دفضلاؤاوشاعرانو احوال پکښی‌و ، ایران اوبخاراچه دواړه دسیدعبدالکریم‌حسینی‌بدخشی په‌قلم په ۱۳۰۲هـ کال کی لیکل شوی‌دی .

تاریخ سلطانی یو کـتاب دی چه ددرانیو دکورنیو حال تر۱۲۷۹هـ کال‌پورې پکښی کښل شوی چه سلطان محمد خالص

په ۱۲۸۱ه ، ق کال دهغه په تالیف پیل کړی اوچاپ شوی دی .

تاج التواریخ چه اصلا مسودې او کتاب ؤ چه داعلیحضرت عبدالرحمن خان له خوا لیکل شوی مگر دغه مسودې دمنشی سلطان محمد هندوستانی له خوا غلا کړی شوې او په لندن کې په انگلیسی ژبه ترجمه اوچاپ شوې او دو هم ټوک هم دنومړی منشی له خوا پرې و کتل شو اوعلام مرتضی قندهاری همه په مشهد کی په روانه اوسلیسه پارسو ترجمه کړ او په دوه جلده کی چاپ ته ورسیده اوشوخله په هند او ایران کی چاپ کړی شو .

دامیر عبدالرحمن خان په وخت کی څینی نور اثار هم تالیف اوچاپ شویدی دهغوله جملی څخه دغه لاندی کتابونه دی:

د آئینهٔ جهان نما کتاب چه پخپله امیر عبد ا لر حمن خان دکلیله او دمنه څخه غوره کړی او چاپ کړې دی . دتزک بابلیون اول کتاب چه پخپله دنو موړی امیر له خوا انتخاب ، تصحیح اوچاپ شوی دی . دمساحت کتاب ، مبادی کیمیا ، نصائح نامه ، ددرانیو عائشی داشعارو دیوان ، درحمت بدخشی دیوان اوداسی نور .

د(انتظام نظام وامورات سپاه) کتاب د امیرعبدالرحمن خان په امر اودگل محمد زائی په اهتمام په ۳۱مخو کی لیتوگرافی (چاپ سنگی) شوی دی . تعلیمنامهٔ خیاطی هم یو کتاب دی چه دمنشی سلطان محمد له خوا ترجمه او دگل محمدزائی په اهتمام په ۱۳۱۰ ه ق کال دکابل ددارالسلطنه په مطبعه کې په لوی قطع او ۸۰ مخو کې چاپ شوی دی. تقویم الدین په ۱۳۰۶کال کی دمیر محمد عظیم الدین سارجن میجر په انتظام او د عبدالرزاق دهلوی په اهتمام په یوه مقدمه او یوه خاتمه کی په ۲۱۲مخو کی چاپ شوی دی دغه اثر دهغه وخت عالمانو تالیف کړی دی .

دحبیب الله خان په وخت کی زیاتی مطبعی مملکت ته واردې شوې او پر زیات آثار ترجمه او تالیف اوچاپ شول، اوهم یوې جریدی دسراج الاخبار په نامه په ۱۲۹۰ شمسی کال مطابق په ۱۳۲۸ قمری کال دمحمود طرزی په نگارندگی پخپلو خیرونو پیل وکړ . دسراج الاخبار په دوهم کال یعنی ۱۳۲۹ قمری او ۱۲۹۱ شمسی حروفی مطبعی مملکت ته راردې شوې . دمحمود طرزی له تالیف او ترجمو څخه پرې زیات اثار یدغه مطبعه کې پدې ډول چاپ شوی دی :

تألیفو نه : ازهر دهن سخنی وازهرچمن سمنی ، یراگنده ، روضهٔ حکم ، سیاحت در سه قطعهٔ روی زمین ،علم واسلامیت ، آیاچه باید کرد ؟ ، جغرافیای منظوم افغانستان ، توحید ، ادب درفن ، جغرافیای عمومی .

ترجمې : سیاحت درجو هوا ، جزیرهٔ پنهان، جنگ روس وجاپان په پنځه ټوکو کی، سیاحت در زیر بحر اونور .

دحبیب الله خان شهید دوخت اوترهغه وروسته پرلوی تاریخی کتاب او بومهم اثر دسراج التواریخ کتاب دفیض محمد کاتب تالیف دی چه په پنځو ټوکو کی دی اوتراوسه یوالمی دهغه دری ټوکه چاپ نه رسیدلی دی . په لومړی ټوک کې ئې د ابد الیانو له حکومت څخه شروع کړې ده .

اوپه پنځم ټوک کی ئی دامان الله خان دوخت پیښی کښلی دی. د څلورم اوپنځم ټوک کلمی نسخی ئې لاتر اوسه شته دی . فیض محمد کاتب یو بل کتاب هم دتاریخ حکما په نامه لیکلی چه په ۱۳۰۲ شمسی کې دپوهنې وزارت په مطبعه کې چاپ شو تذکرهٔ آتش فشان (چه د هرات اوفراه د شاعرانو احوال لری ) رهنمای فراه، دیدهٔ یعقوب، گنج شهیدان ، اونور دادیب فراهی (متوفی ۱۳۱۲ شمسی) له آثارو څخه دی .

تذکرة النساء دهراتی مولانا محمدصدیق اخندزاده اثردی چه په ۱۳۲۳ ه ق کال کی دعربو اوعجمو شاعرو پښتو په شرح احوال کی ئی کښلی دی .

چراغ انجمن اوسکینة الفضلا (یابهار افغانی ) دابوالوفا عبدالحکیم خان رستاقی اولواجی اثر دی . چراغ انجمن چه دبدخشان دشاعرانو اوفاضلانو (دپخوانیواومعاصرینو ) احوال یکښی کهل شوی اوپه ۱۳۰۹ه ش کال کی تالیف شوی دی . اوسکینة الفضلا دکابل د فقها ؤ، فاضلانو او شاعرانو احوال لری اوپه ۱۳۱۰ شمسی کال مطابق په ۱۳۵۰۰ قمری کی بشپړ شوی . دغه دواړه کتابونه دډیلی په مطبعه کی چاپ شوی دی.

وروسته له حبیب الله خان نه جریدی اوورځپانې ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو شوې اوزیات اثار او کتابونه په مختلفو برخو کی تالیف ،ترجمه اوچاپ شول،ترڅو چه فارسی ادبیاتو دغه اوسنی مهره ځانته غوره کړه اوپر شاعران او لیکوال منځ ته راغلل اودغه ادبی سیر لاتراوسه دوام لری .

## ۱۶- موزه په افغانستان کې :

موزه د(زوړ خرڅونکې)(Antiguaire)له نقطهٔ نظره په افغانستان کې داسلام نه پخوا وختو کې موجوده ؤ ځکه په بامیان کې چه‌دخارجي‌زیارت کوونکو دپاره‌غونديوه (مذهبی موزه) وه،دلویو بوتانو په هنګ کې به‌داسی دوکانونه ؤچه ( دبامیان دیادګار په‌نامه) واړه هیکلونه اولوئی مجسمی اود رنګه‌تصویرونه میناتورونه‌اوددغه مشهورهای‌دنقاشیړ مهندسیړ او رسامیړ نورعجیبه تصویرونه ئی‌خرڅول .

لکه څرنګه چه‌دبامیان دلویو مجسمو وړی‌نمونی دزیارت کوونکو به‌ذریعه‌ترجاپان پوری هم رسیدلی‌دی .په‌همدی ډول هیڅ‌شك نشته چه په‌هډه کې هم‌ؤځکه‌ددی ځای د هیکل تراشیړ ډیرو لویو مکتبونو او کارخانو حتماً دو کانونه لرل چه‌لکه دنن زړخرڅونکو به‌شان ددی‌ځای ګران‌قیمته آثارئی په‌زیارت کونکو اوددوق به‌خاوندانو پلورل .

موزه په افغانستان کې د(شخصی کلکسیون)په معنی هم بی‌سابقه‌نده بلکه‌دډیرو پیړیورا پدیخواه هر کله‌ډیرزیات‌دذوق خاوندان پدغه ځای کې‌اوسیدلی‌اوهریودهغوشیانو په‌راټولولو چه‌ئی ورسره علاقه درلوده ډیر زحمتونه وپېتلی‌دی او کـه د کلکسیونو نو موضوع ښه مطالعه کړی‌شی لیدل کیږی‌چه‌لکه یوذوق چه‌تردې ورستیو پەختیز عالم کې رواج لاره‌ټولو ادبی خوا درلوده . لکه دقلمی کتابونو کو لکسیو نونه په‌جنګونو اوبیاضونو کې‌دنایابوشعرونو کولکسیون، دمیناتو اوعکسونو کولکسیونه دلویو خوشنویانو ( ښائسته لیکونکو) دخطی نمونو کو لکسیونونه ، دښائسته اوښکلو ګلانو او نبا تاتو کولکسیون‌اوبالاخره‌دملی (ولسی) جامو،دمسکوکاتواودپوستې دټکټونو کلکسیون او نور .

یوبل‌شی چه ډېر زیات زمونږ او لس‌ذوق اودکام دشهامت روح ښکاره کوی اوډېر زیات په‌افغانستان‌پورې اړه‌لری دوسلو کـلکسیون دی . لکه هنګه چه‌له پخوا ز مانې نه‌دغـه روش معمول‌ؤاونن‌په‌زیاتره کور ونو کې دهغوی‌دنیکونود کـلکسیون نتیجه په‌ډېره ښه سلیقه موجوده‌ده. له‌ښه‌مرغه د کولکسیون‌ذوق پدې وروستیو کلونو زمونږ په هپواد کې زیات‌شوی اونن‌ذوق خاوندان ډېرهغه‌نورشیان چه‌پخوابه‌ورته اهمیت نه‌ور کول کېده رانیسی ، لټوی اوپخیل شخصی ذوق ترې کولکسیون جوړوی بالاخره موزه دتاریخی اثارو د ساتنې په‌مختصه معنی کەهم چه دلومړی ځل‌دپاره‌په (۱۲۹۷) هـ کال کې تاسیس شوه لکن دافغانستان ذوق لرونکو پاچایانو پخیله شاهانه سلیقه پخوالدې نهټې لوی‌لوی شخصی کولکسیونو نه‌ئی لرل چه هر یوئې دیوې موزی قدرته اهمیت‌لری لکه‌هنګه‌چه (مګه‌زنیونه ) اوسلطنتی اوئې (جنسی صندوق خانې) له‌موزې، نه‌ډېر ګرانبهادې اوپه‌هغه ځای کې نادر اوقیمت دارشیان پیدا کېدل . او لکه هنګه چه وروسته په ووینوزمونږ دکابل داوسنیړ موزې اساسی شالوده دهغوی‌شخصی کلکسیونواود پخوانیو جنسی‌صندوق خانواثارو اینې ده . دموزې لومړی عمارت د باغ‌بالا تاریخی عمـارت ؤ چه دکابل دلمرلوېدیز په ٦ کیلو متریړ په یوه ټیه دنه برجه دښکلی تاکستان‌په‌منځ کې واقع اوتعمیرئې دامیرعبدالرحمن‌خان دوخت یادګاردی . موزه دخیل تأسیس په لو مړیو وختو کـې دپاچا دحضور په (شاه اقاسی) پورې مربوطه‌وه اودلومړی‌ځل دپاره دهغې مدیریت غلام محی الدین خان ته‌ورسپارل شوی ؤ اودهغی‌لومړنی اثارعموماًدافغانی پاچایانوشخصی کولکسیونونه اودجنسی صندوق‌خانو محتویات تشکیلوی. یعنی هغه چه‌په‌موزه کې لیدل کېدل ټول قلمی کتابونه، زغره اوپه‌خپله وسـله‌او دپاچایانواودافغانی قامونو ولسی‌جامې،زردوزیړ خامك‌دوزیړ مبل اودکورشیان، دجهادتو غونه دعاج اودلرګیو منبت شوی صندوقونه، دشطرنج سباطونه (تختې)، دلوښو خطی نمو نـې اومسکوکات اونور له‌دغـی شیانو څخه وو .

موزه په (۱۲۹۹هـ ، ش) کال کې دشاه آقـاسی له دائرې نه‌منفك اودپوهنې په وزارت پورې وټړله شوه اوتـراوسـه دپوهنی په وزارت پورې تړلی ده .

په (۱۳۰۰ هـ ، ش) کال برابر په (۱۹۲۲م) کې وروسته لدې چه دحفریاتو (کینلو ) امتیاز دفرانسې عـلمی هیئت تـه ورکړل شو؛ دکابل دموزې دمحتویاتو وضیعت بـدلون وموند ځکه وروسته له‌هغې نهټې دعلمی کینلو په‌اثر ګرا نبها اثـار دخاورو له‌سینې نه ووتل لکه هنګه چه‌نن زمونږ دموزې یوه برخه ډېر اهمیت هغوته منسوب دی .

په (۱۳۰۳) کال کې دکابل موزې له(باغ‌بالا) نه کابل ته دشاهی ارګ دننه یوعمارت ته چه (کوتی‌باغچه) ویل کېږی

انتقال وموند . موزې شپږکاله خپل ژوندپدغه ځای کې تېر کړ اوداهغه وخت ؤ چه تازه ئی سر اوصورت نیولی ؤ ځکه پرته لدې چه دهغې ملی اواسلامی اثار ډېرزیات شوی وو دهډې او بګرام دکینلو په اثر اودیوې فوق العاده نتیجې له کبله چه له لومړی ځای څخه لاس ته راغله، دیخوا تراسلامه داثارو برخه دوه چنده شوه ځکه ېې دتصور اوانتظارنه (یوه موزه دګریك اوبودیك دصنعت له آثارو ) کشفه شوه اوپه زرها وچونه ئی اوډبرینی وډې ښکلی مجسمی اومهمی تاریخی لوحې نورې په موزې ورزیاتې شوې . کهڅهم چه دوخت دنشتوالی له کبله دپورته نویو اثارو اصولی ترتیبات عملی نشول خوبیاهم دکابل موزه یدغه وخت کې دشرق له ډېرو شتمنو موزو څخه شمېرله کېده . دهېراد (۱۳۰۷ - ۱۳۰۸ کال) اړودوړ (انقلاب) لکه څنګه چه زیاتره علمی مرکزونه، مکتبونه، لا براتوا رونه (کیمیاخانې) شخصی اوملی کتابخانې اوزیاتره زمونږ تاریخی عمارتونه ئې په اوروسو ځول، موزې ته ئې هم امان ور ټکړ اوهرنګه چه دغه موسسه په سلطنتی ارګ کی دننه وه، ډېر زیات دحملو مورد وګرزېده اوپه نتیجه کی دهغی ګرانبها اثار دخیلو اوپردو پهلاس کښېوتل اوبالاخره داسی ځایونوته ولاړل چه بېرته پهلاس رانګ ئی نه ؤ . وروسته له هغه چه اړودوړغلی اودبل ځل د پاره حکومت پهښو و درېد او هېواد ډېرمختګ په لیار روان شو، دموزې زیانونههم جبېره شول.

د (۱۳۰۹) کال په و رو ستیو کی موزه د دارالامسان (دارالفنون) یونوی عمارت ته چه دکابل دجنوب غربی په لس کیلو متری کی واقع دی انتقال وموند. دواردشویو زیانونو دتلافی دپاره وروسته لههغی چه دبوهنی وزارت دبیا دپاره تاسیس شو دحکومت لهخوا زیاتی پیسی دموزې دپاره هم اختصاص شولی اوځینی نور اثار چه پهلاس را غلل دوباره واخستلی شول .

دکابل موزې سره لههغو تحو لاتو چه پخپل (۲۰) کلنی عمر کی ئی لیدلی دی، اوسره لهواړه زیانونو اواصلاحاتومجددو ترمیماتو بالجمله دهغو عصرونو له نقطهٔ نظره چه شیان پهڅهغه عصر تعلق لری پهدوه برخو ېشل کېږی ( اوله) برخه اویااسلامی آثار اویا (دوهمه) برخه اویا تراسلامه پخواآثار :

داسلامی عصر آثار : دکابل دموزې اسلامی آثارعبارت دی قلمی قرآن شریفونو پهعربی او کوفی خط سره ،قلمی اومینانوری کتابونه ، وسله اود باچایانو اوافغانی قامونو ولسی جامې ، خطی نمونې ، دغور اوغزنی دوختو مسی لوښی ، خامك دوزی اوسوزن دوزی ، دغزنی دنقاشی آثار ، قندهاری ډبرین شیان او اولوښی اونورو څخه. دغسې شیان لکه څنګه چه پخواتراړودوړه په موزه کې موجود وو اودخلکو ستر ګې هم دهغو په اهمیت آشنا وې،ډېر زیانمن شوی اوله منځه تللی اوهغه څه چه پاتې شوی په لاندې ډول دی :

په پورته منزل کې دمتروکه آثارو خونه :

لمبر ۸۳/۱ - دحضرت سیدناعثمان رضی الله تعالی عنه په قلم په کوفی خط دقرآن کریم ځینی آیاتونه .

لمبر ۸٤/۲ دحضرت سیدنا علی کرم الله وجهه په قلم په کوفی خط دقرآن کریم ځینې آیاتونه .

لمبر ۲ /۸۵ - دحضرت امام حسین (رض) په قلم په کوفی خط دقرآن کریم ځینی آیاتونه .

لمبر ۸٦/٤ - دهوسی دزیره پهپرده په عربی خط دقرآن کریم ځینی آیاتونه .

لمبر ۸۷/۵ - دحضرت علی (رض) په قلم په کوفی خط د قرآن کریم ځینې آیاتونه .

لمبر ۹۰ - دلوی قرآن شریف درې توکه چه د حضرت عثمان(رض) دکوفی خط دقرآن لهمخې ئې عکس اخیستل شوی دی.

لمبر ۹۱ - دکوفی رسم الخط مترجم قرآن مجید ، دخانبالغ نباتی کاغذ دشعرا لهلومړی سورې نه اودهغه ترجمه دعربی خط په نسخ چه دبامیان دغلغلې دښار له خرابو برخونه په (۱۳۳٤)هجری قمری کال کې پیداشوی .

لمبر ۹۹ - دمقوقس مصری پهنامه دحضرت سرور کائینات عکس نامه .

لمبر ۹٦ - دمنذر دساوی زوی د بحرین ملك په عنوان د حضرت پیغمبر دلیك عکس په کوفی خط .

دموزې په کتابخانه کې قلمی معتبره کتابونه :

اوولس کتابه پهیوه وقایه کښې : دغه اوولس کتابه عبارت دی ددرې لوبو شاعرانو له آثارو څخه لکه : مولانا جامی ، نظامی ګنجوی ، اوامیرخسرو دهلوی . ددغو کتابو نومونه پهلاندې ډول دی :

دجامی هفت اورنگ ( سلسلة الذهب ، سلامان او ابسال ، تحفةالاحرار اوسبحة الابرار ، یوسف زلیخا . لیلی مجنون ، خسرو نامهٔ سکند ری )

خمسهٔ نظامی (مخزن الا برار ، خسروشیرین ، لیلی‌مجنون، هفت‌پیکر،سکندرنامه) دامیرخسرو دهلوی‌خمسه ( مطلع‌الانوار خسروشیرین ، لیلی‌مجنون ، هشت‌بهشت او آئینهٔ سکندری ) . دغه ښکلې اونفیسه مجموعه ټوله‌مصوره اومطلاده او کتاب‌ئې په (۸۹۹ه)کال‌کې بشپړ شوی‌دی .

دمولوی مثنوی : دمولانا جلال الدین محمد دمحمد حسین بلخی دزوی اثردی چه‌په ( ۶۷۲ ه ) کې‌وفات شوی‌دی . دغه گرانبها کتاب‌شپږ دفتره،اواووه دیباچې‌اوشپږ فهرست‌ته‌اویوه مقدمه لری .

دبیدل دیوان : په‌نستعلیق خط کښل شوی او جد ولونه‌ئې دطلا په‌اوبودی اوپه (۱۲۷۸ه) کال کې د(بخارا دغجدوان) په کلی کې لیکل شوی اودسیدعالم خان دبخارا د امیر لـه‌خواد حبیب الله‌خان شهید د افغا نستان پاچا حضورته دهـدئې په ډول تقدیم شوی‌دی .

دخواجه‌حافظ دیوان : مصوراومجدول‌دطلا‌په‌اوبو ، خطاط او مصور ئې محمد محسن نومېږی اوپه ( ۹۰۷ه) کال کـې د سلطان حسین مرزا دهرات دپاچا په‌نوم لیکل شوی‌دی .

بهارستان جامی:به(۸۹۲)کال کې‌تألیف‌اوپه۹۸۳ه‌هجری کې دعلی‌رضا نومی به‌قلم لیکل شوی‌دی .

دشیخ سعدی بوستان : دمیر عما دا لحسینی بـه خـط بـه (۱۰۱۳ ه)کال کې‌لیکل‌شوی‌دی .

عین‌الایمان : دپای‌منار (دهرات دمنارونو به څنگ کې‌یو ځای‌دی مترجم پښتو) جناب سعد الدین صاحب د(۸۱۳ه) پیړۍ متصوف په‌خیل قلم .

دسعدی بوستان : دعلی‌الحسینی به‌خطمذهب اومجدول‌شوی چه‌په (۹۲۱ه) کال کی لیکه ئی بشپړه شو یده .

دسلطان ابو سعیدبهادرخان تاریخ: چه‌په(۸) هجری پیړۍ کی‌دافغا نستان‌له‌پاچایانو څخه‌دی اوپه(۹۸۱)کال کی‌دعبدالحمید نومی به‌قلم لیکل شوی دی .

یوسف زلیخا : دهروی (هراتی) ناظم له خوا دتـر کستان په شکست خط .

دشیخ سعدی حمام بندی : دقندهاری میر عطاء محمد شـاه په نستعلیق خط متوفی په ۱۳۴۱ هجری‌کال کې .

دسعدی د غزلونو کـتاب : دمیرمحمد دعلی دزوی په خـط چه‌په (۱۰۱۲) ه کال کی لیکل شوی اوپه (۱۳۳۷ه) کال کی دبخارا دامیرله‌خوامیرحبیب‌الله‌خان‌شهید دافغانستان پاچاحضورته وړاندی شوی‌دی .

میناتور اوخطی نمونې: که‌څه‌هم چه‌یدغو پورته ذکر شویو کـتابونوکې زیاتره مصور او د مینا تور لرونکی دی پرته له دغو دکابل دموزی په‌بشکته منزل کې یوه کوټه دهغو دیـاره ټاکلې شوی اوپرته له‌دغو د زینې په‌دواړو خواؤ کې چه پورتـه منزل ته‌هم دچوکانونو په‌منځ کې یو څه مینا تورونه لیدل کېږی . له‌بده مرغه دکابل دموزې د غسی برخې په انقلاب کې ډېر تاوانونه اوتلفات ورکړی او په تېره دهراتی بهزاد آثار ډېر کمیاب (لږ) شویدی . اوس هغه څه‌چه په مخصوص‌اطاق اودزینې په سرلیدل کېږی، د هېواد دنورو هراتـی اوکابلـی استاذانو دقلم اثر اوڅینې هم‌په‌هندی او بخارائی سبک‌دی اوډېر مشهور ئې په‌لاندې ډول دی :

۵۹لمبر دحضرت یوسف‌علیه السلام‌اوزلیخا اودمصر دعزیز دمیناتور قطعه .

دامیرتیمور ګورګـان مجلس له‌وزیرانو او د هغـه ددولت له آراکښنو سره .

دمیرعلی هروی شبیه متوفی په (۸۶۶ه)

دملا دوفیضه دیوولسمې هجری پیړۍ پېژندوی عالم شبیه .

دشاه‌اکبرشاه‌شبیه‌اونورچه‌دلته‌دهغوذکر کول‌خبره اوږدوی .

دخطی نمونو له‌جملې څخه ډېر مشهور ئې په لاندی ډول دی چه دموزی دنئوتوڅی دنیم دائرې په‌محوط کې په بنې‌لاس دیوال نصب‌دی .

۴۹ لمبر دمیرعلی‌هروی رسم‌الخط ، ۴۶ لمبر دعبدالرحمن حسینی یوقطعه خط ، ۵۱ لمبر دحسن شا بلو یـو قطعه خط، ۱۰۵ لمبر برې‌قطعه‌خط (دشهادت کلمه)دقندهاری‌حیدعطامحمدشاه دسراجیه دوخت معروف‌خطاط په جلی قلم .

دغزنی اوغوراتوفلزی‌شیان‌اولوښی : غزنی دسلطان محمود ښکلی پایتخت چه دحیلی شکوه او ترقی‌ر په‌وخت‌داسلام په‌عالم کې له‌بغداد داسلامی‌خلیفه‌گانو له‌پایتخت‌سره ئی‌همسری کوله پرته له‌هغو منارو آبداتو مزارانو او نوائحونه چه‌نن دهغه په‌زوړ ښار کې لیدل کیږی دهغه د ځلاند مد نیت ډیر گرانبها اثار ذخاورو ډزړه کې پټ‌دی . لکه څرنگه چه سره‌لدی چه‌به هغه ځای کې علمی حضریات لانـدی شـوی د هغه ځـای محلی اوسیدونکی هرکله‌د گرهنی اوخاوری اېستلو په وخت کې ځینی اثار مینده کړی اوشواهد ئې‌لیدلی دی .

له ښه مرغه کوم اثار چه‌له غزنی څخه پیدا شـوی اویـا پیداکیږی زیاتره فلزی دی . اوله همدی کبله د مخکی دمنځ له اثراتو اودزمان له زیانکاربو سره ئی ښه تینگار کړی دی په‌همدی ډول غورات چه‌به اسلامی مد نیت کې دغزنی میال‌دی له‌دغسی اثارونه زیات‌لری اوتراوسه‌ئی څولوښی دکـابل‌موزې ته رسیدلی دی . کوم‌آثار چه‌له غزنی او غوراتـو نه پـه‌لاس راغلی دی دموزې دلومړی‌ر طبقی په د هلیز کـې په ښینه او تکو میزونوباندې ایښودل شوی‌اوغوره ئې به لاندی ډول‌دی .

ددهلیز ښی خواته لومړی میز : لمبـر (٦٣ لـه ت) دژړو دترازو پله . په‌منځ کې‌ئې د (١٢) کوچنیو دائرو په‌مابین‌کې دقمری میاشتو شکلونه اوشاوخواته‌ئې په کوفی خط یومضمون لیکل شوی دی .

لمبر (٢٨ك‌ت)دژړو څراغ‌چه‌له غوراتوځخه‌لاس‌ته‌راغلی‌دی

لمبر (٦٧ ك ب) یو کوچنی دسته لرونکی تېل دانی ډوله لاس څراغ چه $2\frac{1}{2}$ انچه‌لوړوالی لری‌له‌غورځخه پیداشوی او د(٦) هـ قرن دلومړیو دکـار اثردی .

لمبر ١١٥ ـ دژړودڅراغ لوړه‌پایه دغزنی د (٤هـ) پیړی‌ر له آثارو څخه .

لمبر (٦٦ ك ت) لاسی‌څراغ چه دسته اوپایه ئې ماته شوی اوکوفی خط هم‌لری اوله غزنی څخه پیدا شوی دی .

دوهم میز : لمبر (٦٥ ك ت) یوه‌لویه کړائی چه ددائری قطرئی (٣٧)سانتیمتره، لوړوالی ئی $18\frac{1}{2}$ سانتی متره په دننه برخه کی ، ښکته ئی، لکه پورته ذکرشوی د ترازو پله، دقمری میاشتو شکلونه اوپه داخلی حاشیه کی ئی دغـه لاندی مضمون په کوفی رسم‌الخط لیکل شوی‌دی .

( البرکة والبضاعة والثروة والسعادة و العظمة والسلامة والنصرة والندرة والنعمة والـثمرة ) دکړائی په باندنی‌ر برخه کی شاته ئی هم یومضمون په کوفي رسم‌الخط کښل شوی مگر ښه‌نه لوستل کیږی . دغه‌لوښی له‌غزنی څخه پیداشوی او٤ هـ پیړی‌ر کـاردی .

دژړویومنقش‌بتنوس چه‌په‌حاشیه کی‌ئی یوځه‌په‌لرغونی لاتین کښل‌شوی‌اوله‌غزنی‌څخه پیداشوی‌دی .

دوه‌غابه یوشانته ٤هـ پیړی‌ر کار په منځ کې ئې دزمری تصویر اوشاوخواته‌ئې دغه مضمون په‌کوفی خط کښل شوی‌دی (بالیمن والبرکـة والدولة والسلامة والسعادة تسودالکرامة)

(١٦)رخه دژړوغاب د(٥)هپیړی‌ر دکار اثر په‌منځ کې ئې (بالعافیة) کښل‌شوی مسی‌جام: په باندنی‌ر حاشیه کې‌ئې رباعی په‌فارسی‌لیکل شوېده چه دري مسري (مصرع) ئې په ښه شان لوستل کیږای شی .

درسرهوس چوجام داری  بالاله رخان ارغوانی

ایام گـل‌است و مهربانی ....

دغه‌جام‌دهرات دمسگرانو دلاس اثردی اودومره له نمونی نه‌ښکاری .

لمبر(٦٠/٢٥٤) درخام‌یوه‌توته ډبره ... پورتنی‌ر برخه‌ئی یوه گـلدسته‌ده چه‌دواړوخواؤته ئې د(الله) کـلمه‌لوستل کیږی یوالحنی‌ر ډبرینه توته ده چه دغزنی د(فیروزې مانی‌ر ) دښکلا اوشکوه نماینده‌گی کوی .

ددهلیز دکیڼی خوامیزونه :

لمبر(٨٠ك‌ت) دژړوسماوار ، لوړوالی (٢٨) سانتیمتـره اوسور (١٨) سانتیمتره په (٣٦٦) هجـری کال برابـر په (٩٤٧) عیسوی په‌غزنی کې جوړشوی اودخیل سرپوښ په‌لوړه برخه کې کوفی نوشته لری .

لمبر(٦٥ك‌ت) دژړو دوه‌بې دود اوه‌تورشوی سماوارونه چه‌په کال(١٣١٢) کې‌دغزنی له‌ښاره پیدا شویدی اودخیـل سرپوښ په شا وخواکې کوفی نوشته لری . دلوښولـه قسمونو عـلاوه په‌هغوشیانو چه‌له‌غزنی او غوراتو څخه پیدا شوی دی له نورو ځایونوڅخه‌هم‌ځینې توتې په موزه کې موجودې دی لـکه ځینې

بلخی او بدخشی سما وارونه اوخینې جامونه اونور لوښی چه دښکاری دسړک دتسطیح اوآوارولو په وخت کې کشف شویدی .

وسله: دکابل موزه دوسلودساتنې دپاره چه صفت ئې ز مونږ په مملکت کې دملی روحیاتو سره سم ترقی لـر ې ده یوه لویه کوټه ئې دمخ ځنیو پیړیو نه را پدی خوا تراو سه پورې ز غره خود غشی اولېندی، توره ، کرچ، تلوار ، خنجر ، سپـلاوه ، ډال دجهادتوغونه، رازراز تو پکونه چه دوزن له مخې ئې ننني نسل نشی پورته کولای ، په ترتیب اوسلیقه اوښتل شو یـدی چه لیدونکی ته ارومروجذبه پیدا کوی او دهغو په منځ کې دافغان دسپاهی خوبو پاچایانو اوجگـړ نو اوملـی زړ ورو ښه ښـه یادگـارونه موجوددی ، چه ځینې ئی بدغه ځای کې په لنډول یادوو.

داعلیحضرت امیر شیر علی خان مرحوم دژړو خود اوسینه بنده دغه ذکرشوی خو دپخیل مخا مخ اردواړو خواؤ کې درې نښانه لری اودهغه شکلو نه عبارت دی د زمری له مخ څخه چه دغاړې و ښته ئې لـکه دغنمووزی شاوخواته حلقه و هلې ده ،

دمرحوم امیردوست محمدخان دتوغ قبه چه پخپـلو دواړو خواؤ کې نوشته لری اوسنه ئی (١٢٧٤) هجری ده بنی خواته کا یاحی یاقیوم من صبر ظفر نصرمن الله وفتح قریب و بشرالمؤمنین سلام قولا من رب الرحیم کیفې خواته» بسم الله خیر السماء یافتا ح انافتحنا پیشوا ،نصر من الله ازقفا سالـم اوونافـع بیا ، والله خیراحافظا» .

لمبر ٤٥/٣٨ دامیردوست محمدخان مرحوم چاړه .

لمبر ٣٤/٣٦ دامیرشیرعلی خان مرحوم توره .

لمبر ٤٢/٣٥ دوزیر اکبرخان غازی خنجر .

لمبر ٤٤/٣٧ دامیرعبدالرحمن خان مرحوم توره .

لمبر ٤١/٤٧ دامیرعبدالرحمن خان مرحوم تفنـگچه .

لمبر ٨٨/٧٨ دامیرعبدالرحمن خان مرحوم دو خت نظامی توغ چه توټه ئې شنه اوسره اوپه منځ کې ئی د سپینی توتې دائره ده چه ددې دائرې په منځ کې محراب اومنبر او شا وخواته ئې په دوهمه دائره کې «بیرق افواج نظام دولت افغانستان » لیکل شویدی لمبر ٩٠/٨١ عـسکری تور بیرغ دخیلواکیر دسپیڅلې جگړې یادگـار دوزیرستان په محاذ او دتل په پرانیـستلو کې .

لمبر ٣٤/٤١ دافغان دقومونو پنځه ملی بـیر غونـه اوپه (١٢٩٨ه) دمیوند په جگړه کې ز مونږ دهېواد والو دپاره اوزړ ورتیاؤ یادگـار .

ددغو بیرغونو دتـسکر متن آ بـی اوشا وخوائې سپینه ده اودآ بی متن په منځ کې یوه سپینه دائره لیدله کیږی نوشته ندی . پرته له پورته شیانو په متفرق ډول پخوانی توپـونه، دشمنحال طلا کوب توپکونه زغره،ډال، خود، او بارودانیر اونور متفرق شیان ډېر دی .

قندهاری ډېرین شیان : قندهاری لکه څنـگه چه دهېواد په خلکو کې په نظافت اوخوش گذرائیر او پـه ملی جامو کې دتزئیناتو په سلیقه معروف دی. په ظریفه صنائعو کې هم یو شهرت لری . لکه څنگه چه خامك دوزی، زردوزی، د ډېرینو لوښو حجاری شاه مقصودیر ښکلی اوښایسته شیان او ددغه ښار مسی لوښی ئی زمونږ په هېواد کې له ټولو نه ښه شهرت لری .

که همه چه له بده مرغه دکابل موزه دپورته ذکـر شویو په مختلفو شیانو کې داوس دپاره دومره څه نلری چه پـه کامل ډول سره دقندهار دخلکودصنعتی ذوق مقام وښودلی شی، لکه ددې مطلب دپاره یوه ځانله موزه پکاردده . چه پدې وختو کې په قندهار کې نوی تأسیس شو بده . خوسره لدی ځینی آثارچه زیاتره ئې ډېرین دی، دقندهار دخلکو دصنعتی ذوق دښکـاره کولو دپاره موجوددی . له هغی جملې څخه د یومرمری وردوه پټه دی چه دقندهار دوروستیو استاذانو څخه محمد حسن نومی په (١٣٠٠هجری قمری) کال کې جوړ کړی اودهغه دچکش او قلم دمهارت کمال ثابتوی . غیرلدی نور ډېرین شیان چه دموزې دعمارت دپورتنیر برخې په دهلیز کې اینبودل شو یدی دادی : کاسی، جامونه، غوری، غابونه، سگرټدانیر اودیشم له ډبری څخه گـلدانیر چه بې له نقش اونگاره ډېرې ساده جوړې شوی اودشکل، اندام اودجارد ناز کیر اوشفافیر له حیثه دقدرورډی.

دقندهار دډېرینو شیانو په لړ کې هغه څه چه باید ذکـر شی اودبنده په عقیده دکابل دموزی داسلامی عصر له شیانو څخه ډېر غوره دی یو لوی ډېرین دیگ دی چه احتمال لری پخوا داسلام له عصر نه هم په ساده صورت سره موجود ؤ اوپه اسلامی عصر کی په خارجی اوداخلی مخو کی ئې په عربی ژبه لویه شرحه کښلی ده اودهغه دخارجی شاوخوا مورگی (لبه) ئې په (٢٤) ضلعو ویشلی دی. دعربی مضامینو له ترجمی څخه ئې ترکو مه لخایه چه لوستل شوی دی ښکاری چه دغه لوی دیگی کومی قندهـاریر مدرسی تـه وقف شوی دی .

له خامك دوزیر، زردوزیر، چکن دوزیر، سوزنیر اونور دگـډلو کارونه چه په قند هار اوټول افغانستان کی مروج او دافغانستان هره قبیله اونقطه لخانته ممیزات لری دومره زیـات شی نشته ئې له څو محدود وبارچو څخه چه دموزی په پورتنی منزل کې په یوه لخانته کوټه کی اینبودل شویدی اوعبارت دی له :

نمبر (٢٠٩) دوردك دخلکو ور یښم دوزی . نمبر ٢١١ - دهرات دخلکو ورېښم دوزی چه اصلا دښځمینو دکمیس توټه ده اوله هغه څخه ئې پتنوس پوښ جوړ کړی دی .

نمبر (۱٤۳) دبلخ‌دچکن‌دوزی صنعت. لمبر (۲۰۸) دمیدان دخلکو سوزن دوزی چه‌به یوه پښه ئی سپینه ټوټه په‌سرو، آبی اوژېړو ورېښمو سره کار شوی دی .

لمبر (۱۳۹) کمربند اودبیسودوه کڅوړی د غزنی دخلکو سوزن کاری لمبر (۱۱۰) دور دك د خلکو ورېښم کاری. لمبر (۲۰۷) یوه‌ټوټه‌د(۲) سانتی مترمربع په‌اندازه‌چه دمرنجان له‌تپې څخه‌په (۱۳۱۲) کال کې د کوشانی پاچایانو دطلادسکو دکشفولو په‌ترڅ کې پیدا شوېده . اوپه‌دغه څېر څودانی وی چه دهرودوو سکو په‌منځ کې له هغوڅخه یوه‌دانه اپنودل شوی ده اوداسلام نه پخوا عصرته مربوط دی .

په لومړی شق کې په‌همدی مختصر اکتفا کوم او دموزی ددوهم‌شق دځینواثارو په‌تذکر یعنی‌پخواله اسلامه څخه په‌پخوا شیانو باندی‌پیل کوم :

داسلام دعصر نه پخوا آثار : د اسلام دعصر نه پخوا اثار چه دکابل په‌موزه کې وروسته له انقلا به مخ په‌زیاتېدودی اونن دموزی دښکتنی منزل ټوله برخه ئی نیولی‌ده ، دانقلاب نه‌پخوا په‌وروستیو کلونو کی په‌زیاته اندازه موجودؤ ځکه د (۱۳۰۷ ۱۳۰۸) له‌بحران نه پخوا په څولځایو لکه‌هډه، بګرام، پایتاوه کې حفریات شوی او ډېر زیات آثار په‌تېره‌بیا دهډی او بګرام نه‌په‌لاس راغلی وو . لکه څنګه چه دهډی آثارله سلهارنه تېرشوی اوزرهاوته رسیدلی وو . دپورته ذکر شویو ځایونو له اثارونه‌دانقلاب په‌وخت کی دهډی اثارو زیات زیانونه لیدلی ځکه څرنګه چه‌ددغه ځای اثارزیاتره‌اهکی او ژرماتیدونکی‌وو نسبت دبګرام اوپایتاوی له‌ډېرینو اثارونه دوارده صدمو په‌اثر ژرمات شوېدی . مګر څرنګه چه دهغو شمېر زیات وو سره له‌دومره تلفاتو بیاهم نسبت دافغانستان دټولو ځایونه اثارو اوتاریخی شواهدو څخه دهډی مکشوفه آثار زښت زیات دی اودموزی په ښکتنی پوړ (منزل) کې‌ئی دری لوی دالانو نه دکینی خوا په دهلیز کی نیولی دی .

وروسته له انقلاب نه څرنګه چه دکیندلو (حفریات) لمنه بیاپراخه شوه او یو لړ علمی کینودنی په بامیان او دکابل په شاوخوا ځایونو لکه دمرنجان تپه، دخیرخانی کوتل د خزینې تپه . نجراب ، لوګر ، غور بند اودهډواد په نورو ځایو کې‌وشوې‌دهغو نتیجی په‌موزه کښې‌داسلام دعصر نه‌پخوانی اثار و ذخیره نوره‌هم زیاته کړه مطلب داچه دعصر نه‌پخوا نی آثارو چه‌نن‌ئې د موزې دلاندنی منزل هو کوتی نیولی ؛ اود خارجی مدققینو دنظر سره‌سم دکابل دموزې دشهرت سبب ګرزېدلی دی، بېله استثنا دافغانستان دهرې نقطې نه چه‌پلاس راغلی وی تراوسه فقطیوې تاکلې دورې نه‌محدوددی چه‌دمسیح دلومړی پېړی له‌شاوخوا نه‌تر (۸) پېړی پورې (زمانه) په برکې نیسی . اوددیانت اومدنیت له‌مخې ټوله بې دنورستان له لرګینو هیکلونو چه‌له دغو څخه به وروسته بحث و کړو اود پخې خټې نه‌ځینې وړې‌مجسمې چه‌د بانو له‌بښار اود لرغونی‌خلم (داوسنی تاشقرغان سیمې ) څخه پلاس راغلی دی ، په بودائی دیانت پورې اړه لری چه‌اته سوه کاله‌ئې بدهه هډواد کې‌رواج لاره ځکه تراوسه پورې قصداً دمدنیت‌دهمدې دورې حفریات شوی اوپه‌موزه کې دهمدې تا کلې دورې آثار راټول‌شوی‌دی.

( باید ووپلشی چه‌دافغانستان دلرغونی مدنیت د دورو په حفریاتو نوی لاس پورې‌شوی او کوم شواهد چه‌له نادعلی‌اود افغانی سیستان له‌نورو څخه پلاس راغلی‌دی ؛ عجالتاً (٤)زره کاله پخوا ترمسیح‌رسېږی . لکن تراوسه مطالعه شوی ندی‌او پدې لحاظ په‌موزه کې خوندی ساتل‌شوی دی اودنندارې دپاره هم اپنودل شوی ندی )

په افغانستان کې داسلام دعصر نه‌پخوا دموجوده شیانو دبشپړ فهرست له‌تذکر نه‌پدې ځای کې صرف نظر اودلازمه لنډ ونې اود حفریاتو دتاریخ له‌مراعات سره سم یواځې د افغانستان د مختلفو برخوغوره آثارچه‌اوس دکابل په‌موزه کې موجود دی بیانوم :

دهډې آثار : هډې‌چه‌دجلال کوټ داوسنې ښارپه (۸) کیلو متری کې‌واقع‌ده اوحفریات ئې‌په(۱۳۰۲)کال د(موسیوفوشه) دفرانسی دحفریاتو درئیس په‌اشاره‌اود(موسیو ګودار) په‌ذریعه شروع شول او(موسیوبرتو) بیاهغوته‌ادامه ورکړه . دموادوله مخې دوه برخې آثارورکړی‌دی ؛اهکی اوډبرین ، څرنګه چه‌د اهکو کار اسان‌دی اودهغو قالب اخیستنوهم‌دهیکل تراشولاسونه سپك کړیدی نسبت د برېنو اثارونه ګڼی ( اهکی) شیان ډېر زیات اوښکلی‌دی .

دهډې آثار دبګرام اوپایتاوې له اثاروسره لکه څنګه‌چه‌دمخه مو وویل ګډوډ دموزې‌دکینې خواپه‌دهلیز کې په‌دې کوټو کې اوښتل شویدی، چه‌له‌هغوڅخه‌ئی‌دوه غوره‌دی اودادی هره پارچه دلمبر دیادونې سره په‌لاندې ډول مطالعه کېږی :

الف ګڼی آثار :

لمبر ۲۰۹ دګچ‌ډبرې مکعبه پارچه . دضلعې اوږدوالی‌ئې (۳۰) سانتیمتره لوړوالی‌ئې(۲٤) سانتیمتره‌ده . دغه‌پارچه‌خپلو هلورو خواوته په‌لاندې ډول هلور خواوی لری :

(۱) بودا دهاتی درام کولو په‌حال کې .

(۲) بودا د(بودهی) ونې لاندې .

(۳) بودا اویو کوچنی،شوم چه‌پیشګوئې ئې کړې‌اووائی چه داشوکا امپراتور به شې . اوبودا هغه ته‌یو موتی خاوره ور کوی .

(٤) برهما ، اندرا . اوبودا .

لمبر (٧٤٤) دبودا لوبه مجسمه دیو متراو(٢١) سانتی په لوړ والی .

(٧٤٦) نمره دبودا هغه مجسمه ده چه په تخت باندی ناسته ده اوبه گوتو سره دمراقبې حرکت اداکوی .

(٢١٤) نمره هغه صحنه ده چه دبودائی نکلونو او افسانولە مخې بودا آدم خوړونکی غول دکوچنیو ماشومانو له خوړلونه منع کوی .

(٣٢) نمره هغه صحنه ده چه بودا دخپل آس سره خدای په امانی کوی .

(٢٥٣) نمره هغه صحنه ده چه څلورتنه تحفه ورکوونکی ښکاره کوی چه دهغی په مخ باندی ئی گلان بار کړی او په نیم تنه صورت ترهغې لیندی لاندی چه د آس د نال په شکل دی ښودل شوی دی .

(٢٨٩) نمره هغه صحنه ده چه دشتمنې اوثروت رب النوع ښکاره کوی اوبه کښې لاس کښې ئی نیزه ده .

(٢٦١) دثروت رب النوع هغه ډېر ښکرونه چه دهغه نیټه ده په کښې لاس کښې نیولی دی . ښې خوا ته ئی یو تن رساله ئی او کښې خواته ئی یو پلی اوبیاده عسکر ولاړدی ، او دصحنې په لاندنۍ برخه کی دیه تنه دیسو دکښوړو (کسو) په خالی کولو بوخت دی .

(٢٣٦) نمره، عسکر، سرۆ پښې ئی نشته اویوپلن اولنډ خنجرئی په ملا کښې لخوړند کړی دی .

ب : ډېرین آثار : (٤) نمره دبودادمرګ نه وروسته دهغه دایرې (خاکستر) دتقسیماتو صحنه ده، دقبا ئلو دنمایندګانو څخه یوتن په اوښ سپوردی اوهغې کڅوړې (جعبه) سره چه ایره پکښې ده خپل ملك اووطن ته بهرته لځی ،

(٤٣) نمره هغه صحنه ده چه برهمنی زاهدته نژدې دبودانګ اودبودا په کچکول کښې دهغه دمار دپټېدلو قصه ځرګندوی .

(٣) نمره هغه صحنه ده چه دبودا دکوچنیتوب حالت اودده ژوندانې له باغ نه شاهی ښار (کاپی لاواستی) ته دده بهرته ټګ ښکاره کوی .

(٢٠٢) نمره هغه صحنه ده چه یوتن کوشانی تحفه ورکوونکی ځرګندوی .

(٨) نمره هغه صحنه ده چه دثروت رب النوع (پانسی کا Pancika) دپیسو دکڅوړی اودیوی نیزی سره ښکاره گوی .

(٨٤) نمره - دیو برهمن سره دیوشهزاده دملاقات صحنه ده.

(٥١) نمره - دشینو په مخکښې دبودا دوینا صحنه ده .

(٦٢) نمره - یوتن زره پوش عسکر دی .

(١) نمره - دجنګ ازمویني صحنه ده .

(١٠٥) نمره - دووتنو برهمنی زاهدانو پخپل کښې لاس کښې داوبولوښې نیولی دی اودهغه څخه لاندی ولاړدی چه دونوله ښاخونو څخه جوړ شوی دی .

(٤٠) نمره - دهغه نکل اوافسانی صحنه ده چه دبودا دتره زوی یوفیل چه وژلی ئی دی اوبوداته دآزار ورکولو دپاره دهغه لاښ په ښار کښې اچولی دی چه خوځا (ګنده) شی اوبوی وکړی، اوبودا هغه دښار ددیوال دباسه دباندی غوږ لګوی . په دغو صحنو باندی سربیره دهدې دآثارو په دوهم نمبر کوته کښې هوسوه لوی اووایره سرونه موجوددی چه دکوتې د دیوالونو داطرافو (١٢) الماری اودکوتې په منځ کښې یوه ستره شیښ مخه الماری ئی ډکه کړی ده . له سرونو څخه هغه سر چه ډېرد ذکر اوویلو وړدی (٢١) نمره او (١٧٠) نمره سرونه دی چه دوینتانو دطرحی رویه ئی دیو نانی لطیفو مجسمو دوینتانو دمجدوالی سبك ښې، اوموسیوها کن د مقائسی دپاره دلندن د (برټش موزیم) داسکندر دسر عکس دهغه تر څنګ کښښود، هرکله چه دمجسمو سرونه دغاړی د ناز کوالی له کبله دبدن نه ژر جلاکیږی، اویا دسردکاسې د ډکوالی په واسطه ډېردوام کوی، دبدن په نسبت شمېرئی په موزه کښې زیات دی کومه هم نن ورځ ئی بدنونه نشته مګر دوینتانو دطرحی او دغوزونو داشکالو اودځېرې دنورو خصوصیاتو له مخې په ښه شان معلومیږی چه فلانی سر یه کوم ډول سړی پورې اړه لری ، لکه که چیرې څوك دبودائی صحنو داشخاصو صوری خصوصیات پیژني نو ګډوری چه دهدې دآثارو ددوهمی کوتې په سرونو کښې له بودانه نیولی تر (بودیساتوا)، راهب، شیطان عسکر، روحانی اوغیرروحانی اودموسیقی غږوونکی اودعاجز اودنورو ټولو سرونه موجود دی .

دپایتاوې اوبګرام آثار : پایتاوه اوبګرام دکابل دشمال خوا نه، لومړی ځای د(چاریکارو) دجنوب شرق په لس کیلومتری فاصله، اودوهم ځای دهغه دختیزې خوا په (٨) کیلومتری کښې پروت دی . هغه آثار چه دکاپیسا دښکلی اوزرخیزې جلګې له دغودوو ځایونه څخه په لاس راغلی دی، ټول دتیږو دی اوپه هغو کښې دیو دابودول مجسمه عمومیت لری چه له اوږو څخه ئی اوردپښو له تلو (کفونو) څخه ئی اوبه راوځی ، اومعلومیږی چه دغه بودا په کاپیسا کښې مخصوص شهرت درلود لکه چه (٢٠٠) نمبراو(١٩٦) نمبر هیکل دغه مقصد ښکاره کوی . دپایتاوې هغه بله ټوته چه په دغه ځای کښې ئې یادول ډېر ضروری دی دهغې یوې صحنې قاعده ده چه په (٢٠٥) نمره دهدې د آثارو په لومړی کوته کښې کښودل شوې ده .

دغه لوحه هفه تاریخی صحنه بنکاره کوی چه په بودائی دیانت کښی د کوشانیانو داخلیدل بنکاره او هر گند وی لکه چه د «بودیس انوا» (میتریا) په شاؤخوا کښی دوه درې تنه کوشانیان په ملی جامو او نمدی موزو کی لیدل کیږی چه تحفی ئی په لاس کښی نیولی دی .

(۲۲۹) نمره هغه لویه لوحه ده چه دبودا دژوندانه ډ پری مختلفی صحنې بنکاره کوی لکه دزیږیدنی صحنه دیوتن ساحر دبیشگوئی صحنه چه هغی له مخی په بودا یوستر پاچاشی . دخیل پلار له کورځخه دبودا دسفر دتهیې صحنه، او په یو باغ کښی «نیادترك کولو اوددا سې نوروخبرو صحنه:

(۱۹۷) نمره د (مایا) ملکی دبودا دموریه وضعیت د کومې بنځی نمایش .

(۱۹۵) نمره هغه یو کوچنی چه دثروت رب النوع (هارتی Harti) ته یوشی وړاندی کوی .

دبامیانو آثار: بامیان چه دپای تخت دشمال غرب په (۲٤۵) کیلومتری فاصله کښی پروت دی ، دبودائی آثارو داهمیت په لحاظ دخیلو ۵۳ او ۳۵ متری سترو مجسمو په لرلو سره یوداسې معروف او مشهور ځای دی چه شهرت ئې پټ ندی ، تر (۱۹۲۰) میلادی کال پوری بامیانو دکابل په موزه کښی هیڅ اثر او نښه نه درلوده .

د (۱۹۳۱) کال د کیندنو او حفریاتو او دنورو کشفیاتو نه وروسته چه دکنگرك په دره کښی وشول او په نتیجه کښی له یومعبد نه ډېر تصویرونه پیداشول، نن ورځ ئی د کابل په موزه کی یوه داسې ستره او ابرومنده کوټه نیولی ده چه دهغو - تاریخی مقام لائقه ده . دبامیانو آثار که څه هم زیات ؤ کم ددوه درې جلاجلا معبدو تزئیناتی بقایا بنکاره کوی مگر عموما هغه ټول په دوو برخو ویشل کیدلی شی : لومړی دهغو څاورو لاندی آثار چه د (۳۵) متری هیکل پښوته نژدې د (G) دمعبدنه د (۲۹۳۱) کال دحفریاتو په اثر پیدا شول چه عموما دخټو اولرگو کوچنی سرونه دی چه اوس هم یونانی سبك دهډې دماهرو استادانو رویه پکښی لیدل کیږی . دوهم دیوالی رنگه تصویرونه دی چه (دبامیانو دجنوب شرق په ۱۵ کیلومتری کښی) د کنگرك ددرې له معبدنه په دغه کال کښی کشف شوی او ډېری ښی منقوشې تابلوگانی دی چه په څلورمه اوپنځمه مسیحی پیړۍ کښی زمونږ دوطنوالو دنقاشۍ اور سامې لوړه قریحه اواستادانه مهارت بنکاره کوی . هغه آثار چه د (G) له معبدنه په لاس راغلی دی په درې کوچنیو الماریو کښی کښودل شوی دی او په هغو کښی مهم ئی دادی :

(۱۱۸) نمره د یوبروتی سړی سردی چه مثال ئی زمونږ په پښتنی قبائلو کښی ډېر لیدل کیږی . دده پراته لوی بریتونه دلیدلو وړ دی .

(۷٤) نمره دزمری دبدن مخامخ نیمائی برخه ده چه پښې ئی په غیر طبیعی صورت جوړی شوی او درنگونو آثار پکښی لیدل کیږی .

(۱۲۰) نمره - دشیطان سردی چه ویښتان ئی داور لمبې اوشغلې په شان طرحه شوی او په ډغه نسبت ئی رنگ سور دی .

(۱۲۱) نمره - دیوتن راهب سردی چه دهغه دصورت لاندنۍ برخه ماته ده .

(۸۱) نمره او (۹۲) نمره - هغه سرونه دی چه سره ددی چه دهډې دهیکل تراشۍ له شوونخیو څخه دبامیانو مسافه لیرې ده دویښتانو په طرحه کښی دیونانی نفوذ اثر بنکاره کوی .

دیوالی رنگه تصویرونه په فوق العاده لویو اومخصوصو شیشه ئی الماریو کښی کښودل شوی دی احتمال لری چه د کنگرك ددرې معبد چه دغه تصویرونه پکښی پیداشوی دی ، د مسلمانانو دراتگ ترزمانې یعنی دنهمی مسیحی پیړۍ تر آخرو وختو پورې آباد اووان ؤ، او بودائیانو هر کله چه داسلام دلښکرودراتگ آوازه واوریدله دخیل معبد منقوش دیوالونه ئی یوه ورځ کاگل کړل چه دمسلمانانو ستر گې ورباندې ونه لګیږی اوخراب ئی نه کړی . مگر په ډغه خوب کښی لاړل اوفناشول اومعبد په هماغه ډول کاه گل شوی تر (۱۹۳۱) میلادی کال پورې پټ پاتی شو او همدغه وضعیت واسطه شو چه دیو ولسو پیړیو نه وروسته صحیح اوسالم مونږ ته ورسیږی .

دغه تصویرونه پخپله په معبد کښی داتو دائرو په منځ کښی رسم شوی وو چه یوه ئی دگنبدې مرکز او اوونوروئی شاؤخوا دیوالونه پټ کړی وو لکه چه اوس هم په موزه کښی ننداره کوونکی دهغه څوسترې دائرې وینی . ددغو تصویرو موضوع بودائی مذهبی تصورات دی . لکه چه په مرکزی دائره کښی گندیك ستر ( بودیس انوا) او په اوواطرافی دائرو کښی دبودا ډېر اشکال دمتناظرې په حالت کښی څرگندول. هغه شی چه تاریخی نقطی نظره څخه فوق العاده اهمیت لری دبامیانو د (٤-۵) پیړۍ کوشانی پاچا بریکنزدی چه دبنکارنه توبه وکاږی اواوس په موزه کی دبودا ددوو نورو تصویرونو سره ددیوال په یوه توته کښی کینډل شوی اومحفوظ دی. هغه تاریخی نتیجه چه دهغه له دقیقو مطالعاتو نه په لاس راغی ده داده چه دبامیانو پادشاهانو به پخپل تاج کښی درې نوې طلائی میاشتی او دهرې یوې په منځ کښی به ئی دسپینوزرو یوه تبیر نصبوله، او که چیرې دغه مواد دهغو دوو سکو دپادشاهانو دتاج سره چه په غزنی کښی پیدا شوی دی مقایسه شی نومعلومیږی چه د کابل او بامیانو د (٤ - او - ۵) پیړۍ د کوشانی وروستیو پادشاهانو ترمنځ واسطه - رابطه اوخپلوی

دانۍ قالمارف ۲۰۰۰ هلد

قائمه وه . سر بېره په‌دغوشیانو چه‌دبامیانو له دوو تا کلوخابو هخه اوغو نورشیان لکه دلخنګلی ګراز او دهغو دوو مرغانو تصویرونه چه‌په ګډه سره‌ئی پخیلومښو کو کښی یوه غاړه کښی (ګلوبند) نیولې‌ده اود (D) څمڅې دبرنډې له‌چټ هخه‌بالاس راغلی‌دی . دسانسکریټ لخینی لیکنې هم د (G) دمعبد په‌څمکه کښی دکیندنواوحفریاتو کښی پیداشوی‌دی چه‌دفرانسوی‌مستشرق موسیو (سیلون‌لوی) دهڅې‌نواو ګتنوله مخې‌د(ګوپتا)دوروستی عصر په‌رسم‌الخط دونې په‌نازك پوستکی‌لیکل شوی‌دی او اوس دبامیانو دآثارو په‌کوټه کښی موجودی دی .

دبامیانو دآثارو په‌کوټه کښی سر بېره په‌مخلی شیانو،دیو شمېر رنګه‌تصویرونو عکسونه‌هم موجوددی چه‌تاریخ ئی‌د(۸–۹) مسیحی پیړی‌ شاؤخواته‌ یوڅی‌دارلې اودرېمې‌هجری‌صدی‌منځ ته منسوبېږی اوانګلیسی معاصر مشهور لرغون پوهاند (سراورل استین دمرکزی آسیا به(ټون هونګ) نومی‌ځای کښی کشف کړی‌دی ، له‌دغو تصویرونو څخه‌دیو تصویر یادونه ئی موردهنه‌ده‌اوهغه یوه تابلوده چه‌چینی مشهور زاهر(هیوان ـ تسنګ) چه‌په ۶۳۲م (په‌لومړی‌ هجری پیړی‌ کښی‌افغانستان اوهند دمقاماتو دکتلو دپاره راغلی ؤ ، سره‌دهغو کم یاڼتو کتابو ښیی‌ چه دېرته تګ په وخت کښی زمونږ له مملکت نه دلځان سره وړل .

دکابل آثار : کابل زمونږ تاریخی پای‌تخت چه د ښکلی کوهستانی دښته اودهغه دحضارخائسته غونډی‌ داوسنی‌ جلګی نه‌پخوا دهغه داوسېدونکو داستوګنی ځای‌ؤ ، په‌بیلو بیلودورو کښی په تېره بیا بودائی‌زمانه چه‌د کابلستان دیونانی‌پادشاهانو کوشانیانو ، پهلوایانواوداسکائیانودسلطنت سره‌مصادفه‌ده‌دځیل ښکلی حصار په اوړو برخو کښی باشکوه معبدونه ، محکمی کلا ګانی ، څلی ( مناري) اونورې مهمی مذهبی ودانی‌ئی درلودی . سر بېره په‌هغه چه‌په دغه‌ځای کښی مو په لنډ صورت داوسنی کابل په‌باب کښی بیان کړل ، دبودائی زمانې کابل د(شیوه کیو) په سیمه کښی دپای‌تخت دجنوب شرق په‌اتو کیلو متری کښو په‌ټوله‌معنی یوبلښتار درلود، لکه‌چه تراوسه پورې دغه ځای د(خورد کابل ) په‌نامه یادېږی. نوکابل اوهغه ته‌نژدی اومتصل شاؤ خوا سره دهغه مقام چه‌په‌دغه زمانه او دهغی نه پخوائی درلودبخیله سینه‌کښی ډېر آثار لری‌لکه‌چه د (۱۳۱۲) کال نه را ایسته دمرنجان دغونډی، خزینی د غونډی‌ او ذخیرخانی دغاښی حفریاتو ډېرې نتیجی ور کړی او سمدلاسه تراوسه پورې دکابل اثارو پخیله موزه کښی دوې مخصوصی کوټی نیولی دی .

دمرنجان دغونډی‌ آثار : دمرنجان غونډی‌ چه دپای تخت په‌ختیزه غاړه کښی پرته ده د۱۳۱۲ کال دحفریاتو په‌اثر ښې‌نتیجی ورکړی‌دی چه‌له‌بده مرغه یوه‌برخه‌ئی د خاورینو موادو دخاموالی په‌واسطه دکشفېدونه وروسته مات شوی‌دی . په‌هرحال هرهغه‌چه‌سلامت موزی‌ته رسېدلی‌دی اودکابل دآثارو په‌لومړی‌ کوټه کښی کېښودل‌شوی‌دی، د بودامجسمه اوشهزاده (بودیس اتوا) یوه‌بله ستره اوښکلې مجسمه ده چه‌په‌ډول ډول قیمت بهاګانو ښکلې شوې‌ده اوبه علم تشریح او دانداموتو په‌تناسب کښی دکابلی هیکل تراش‌استاد کامل مهارت‌ښکاره کوی، دکابل داثارو دپاره مخصوصه په دوهمه کوټه کښی دمرنجان دغونډی‌له آثاروهڅه ددوو‌تنوهندی اعانه‌ورکوونکو مجسمی دی چه (۹۷او۹۸) نمرې لری ، اودواړه یودبل سره مشابه په لخنګو ناست دی اویوتن‌ئی پخیل کېږ لاس کښی تاج نیولی‌دی اوخیل ښی لاس‌ئی دادب په‌ډول‌په‌سینه‌باندی اینې دی دوهم سړی خیل دواړه لاسونه دهندی سلام‌په‌ترتیب په مخکښی نیولی دی . جامې‌ئی دیوډول لسمی (نمدی) یادځرمنی جامی دی چه‌دهند داوسنیو جامو په‌شان په‌خیلودواړو خواؤ کښی‌درز لری . سر بېره په‌دې دکوزی په‌شان دوه‌درې نور لوښی هم چه‌په هغو کښی ایره اوهیوکی وو ، دمرنجان په‌غونډی‌ کښی پیداشوی‌دی اودکابل دآثارو په‌لومړی‌ کوټه کښی موجوددی .

(۱۰۳) نمبر کوزه دکوچنیو دائرو په‌منځ کښی دهوسی‌ (آهو) داشکالو به‌واسطه اوهغه ښه کوزه چه لاستی نه لری اومښو که ورپورې ده دخیلو رنګه نقشو نو په واسطه دکتلو وړې ده .

دخزینې دغونډی‌ آثار : دخزینه غونډی‌ چه دښار په لوېدیزه پوزه او دچنداولو دهزاره وو دکلا دپاسه واقع ده، دښار دغربی او هوهستانی حصار په‌لوېدیزه څنډه کښی لخینی داسی آثار پیداشوی دی چه دکابل د آثارو دکوټی دښکلیتوب باعث ګرځېدلی دی . دغه معبد لکه چه دحفریاتونه ئی معلومه شوې ده دمسلمانانو دراتګ تر وخته پورې آباد ؤ، اودهغوی په‌لاس وسوځول شو ، لکه چه دهغه ځای ټولی مجسمی چه‌خاورینې دی داور په اثر په‌یخو تیکرو تبدیلی شوی‌دی اوحتی لخینی داور ددودیه اثر توری شوی هم دی . دغه آثار نن‌ورځ دمرغانو داشکالو او کوچنیو سرونو په صورت تقریبا پنځوس دانی دکابل د آثارو په‌دوهمه کوټه کښی کېښودل شوی دی، اودهغو دجوړېدو تاریخ دځلورمی اوپنځمی مسیحی پیړی‌ تر منځ بلل کېدلی شی .

ذخیرخانی دغاښی آثار : ذخیرخانی په‌غاښی کی چه‌دکابل، کابیسا دسرك په اوږدو کښی دکابل دشمال غرب په پنځو کیلو

متری فاصله کښی پروت دی، اوحفریات ئی د (۱۳۱۲) کال په وروستیو ورځو کښی شروع شوی وو خومهمې ټوټې پیداشوی دی چه وجودئی دکابل دسیمی دمذهبی تاریخ د پاره ډیر مهم دی لکه چه دغه ټول په بوستر برهمنی معبد کښی کشف شوی دی، او په دغه دبانت پوری اړه لری، اوډیره مهمه ئی دلمر د رب النوعی مجسمه ده چه موسیو هاکن دهغی تاریخ دهلو رومی مسیحی پیړۍ لومړیو ورځو ته منسو بوی .

په دغه آثارو سر بېره دافغانستان په ځینو نورو ځایو کښی هم لکه گردیز - نجراو - لوگر - غوربند - قندوز او داسی نور په اتفاقی صورت ځینی آثار پیداشوی دی، لکه مر مری سر چه په لومړی یادشوی ځای کی اوډیر بن سر چه په نجراو کښی موندل شوی اوبودا دروژی، په حال کښی څرگندوی اولومړی سر دهډۍ د آثارو په کوټه کی او دوهم سر دکابل د آثارو په کوټه کی موجود دی .

دنورستان دلرگو آثار : هغه سیمه چه دافغانستان په شمال غرب کښی د نشگرهار دولایت سره بوط د هندو کش دسلسلې په جنوبی لمنو کښی نزورځ د (نورستان) په نامه ، اوپخوا د (کافرستان) په نامه او دعربی جنرافیه لیکونکو په نزد د (لورستان) په نوم یادیده، دکابل به موزه کښی پخپل مخصوص اطاق کښی د لرگو یوشمیر مجسمی لری چه په هیئت کښی دمړه شوو کسانو هیکلو نه دی او د اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان په زمانه کښی د دغی سیمې دفتح کیدلونه وروسته په لاس راغلی دی په دغو دوو ټولگیو آثارو سر بېره چه بیان ئی په لنډصورت دمخه وشو ، دکابل په موزه کښی یوشمیر نورشیان په تیره بیا مسکوکات ډیر دی لکه په غوربند کی بودائی اویونانی پیداشوی آثار او په قندوز کښی کشف شوی آثار .

## د افغانستان مسکوکات :

الف: قبل الاسلام : پیسی چه دبشر په ژوندون کښی ډیر مهم رول لوبوی ، لومړی په عمومی صورت مفصله تاریخچه لری اوبیا په دنیا اوجتی په یوه مملکت اویونیار کښی دهغو اقسام اوانواع دزمانی دتېرېدلو په سبب دومره زیاتی دی چه تحقیق ئی یومخصوص علم گرځیدلی اویوه ډله تاکلی اومعین پوهان اوعلما د (سکه پیژندونو) په نامه دمسکوکاتو اوپیسو په باره کښی جوړنه اوتحقیق کوی ، مسکوکات دتیرو تاریخی پېښور وښانه کولو دپاره له مهمو باوری منابعو څخه دی ، اوپه هرهغه ځای کښی چه دتاریخ ژبه چوپ اودتیږو لیکنې اونور منابع نه وی نو په دغو مسکوکاتو سره ئی تماس کړی اوبو ځای ته رسیدلی دی دهرې دورې اودهر مملکت مسکوکات په دغه سبب چه لومړی یو فلزی شی دی او بیا پخپل نوعیت اوزمان کښی به زیات شمېر دعامو په لاس کښی لوبدلی دی، سره ددې چه هغه دوره اوهغه زمانه پخپل ټول موجودیت اوآثارو سره له منځه وتلې وی؛ دغه فلزی ټوټی چه په ټوله معنی دهغی دورې ، قوم اوجامې صادق نماینده دی له منځه ندی تللی اوامکان نه لری چه دهغی مجهولې نقطی لـه خرابو اوگردونو اوخاورو څخه یودوه دانی پیدانشی، اوهر کله چه دټولو زمانو په مسکوکاتو کښی دژبې ، رسم الخط ، دلباس دطرز اودینی عوامل دپاچا نوم اوصورت ، دضرب د ځای سنه ځینی وختونه وسله، حیوانات ازنورشیان ضرب شوی دی یو دوه دانی مسکی په فصیحه ژبه دهغی دورې دډیرو مهمو شیانو څخه معلومات ورکوی، اوهغه وخت چه یوځل دخبرې سر معلوم شو اویوه اندازه اساسی معلومات ټول شول نودیو پاچا اویونیار دمختلفو سکو له مقائسې څخه دیوې اوزدې زمانې ټول پېښه روښانه کیدلی شی نو که چېرې نن ورځ ازوپائی مدققین دمسکوکاتو په باب کښی تدقیق کوی او مخصوص علما خپل ژوندون دهغو په پالنه او کولکسیون کښی حربوی حق لری مسکوکات په حقیقت کښی دتاریخی کتاب فلزی پانې دی چه شیرازه ئی شلېدلې اود زمانې دحوادثو بادونو هغه هرې خواته شیندلې اوتیت ویرک کړی ئی دی. ددې دپاره چه دغه کتاب وکتل شی اواستفاده ورڅخې وشی لومړی باید هغه د پانو په ټولولو اوترتیبولو کسی زیار اوزحمت وایستل شی . پیسی څه وخت پیداشوې ؟ سکه په کوم وخت کښی اختراع شوه ؟ دهغو دپیدا کېدو علت څه شی ؤ ؟ ددغو مسئلو اوداسی نورو مسئلو جواب دبشر دتدریجی تکامل دمراتبو سره ځنگ په ځنگ اویو ځای دی اوانسان ترهغی زمانی پورې چه په انفرادی حالت ئی ژوندون کاوه هر کله چه خپل لومړنی احتیاجات ئی پخپله لیرې کول اود اجتماعی مرستې موضوع په منځ کښی نه وه نو له دې کبله پیسی هم چه دبل دمرستی دتحصیل واسطه اوسیب دی موجودی نه وی ، وروسته تردې چه انسان د اجتماعی ژوندون مرحلې ته ورسېده وضعیت تغیرو کړ، ارتباوې او احتیاجونه زیات شول، اوهرکله چه یوتن په یوالخی خان خپل ټول احتیاجونه ایرې کولی نه شول ، نومجبور شوچه دخپلوحیاتی حوائجو یوه برخه دنورو په واسطه برابره کړی . دغه وضعیت ددې باعث شوچه یو (عامل) اویا (واسطه) پیداشی چه دهغی په ذریعه د (نورومرسته) په لاس راشی .

دهغی نظریی په اساس د(پیسو) دپیدا کېدونه پخوا ددنیا په ټولو هېوادونو کښی د(نورو مرسته) یا(دنورو دزحمت محصول) په جنس سره حاصلیده ، یعنی یو جنس به په بل جنس سره تبدیلیده لکه چه اوقیانوسیه وحشیان اود شمالی امریکا

اوافریقا وحشیان اوس هم خیل احتیا جات په جنس سره اخلی اوجنس په جنس تبدیلوی . د هغو تحقیقاتو له مخې چه کړی ئی دی دډې ابتدائی مرحلې نه وروسته د لوېدیزی آسیا په هېوادو اودبحرالروم دسواحلو دغا ړو په ملکونو کې چه افغانستان او هند هم دهغو جز د ی د اشیا وو اخستنه زیاتره دحیوا ناتو په تبا د له سره کېدله ، لکه چه ددې معاملې یادګار اوس هم په لحینو آ ریائی ژبو کې پانی دی اود پول دکلمی څخه په لاتینی ژبه کښې ( پکونیا Pecunia ) باجرمتی کښې ( فه ـ یافیه Fee یا Ieh ) په سانسکریت کښې (ردبیه) چه ټول په اوائل کښې د(حیوان) په معنی ؤ ددې نظریې حقیقت معلو مېږی .

دهغو مملکتو خلکو چه د دریاب ساحل ته نژدې وو (دمالګی اودریابی کالدفو ټوقی) په ئی په نورو شیانو تبدیلولې ، لکه چه د مسیح دزمانې نه پخوا د غه صدف د ( سیپرا Cypraea ) او ( کور یس Gouris ) په نومونو په لیرې خټیز کې ډېر رواج درلود ـ اودافریقا په لحینو ځایو کښې اوس هم له منځه ندی تللی هغه وخت چه فلزات دمبادلې میدان ته راوړوتل پخواله دې چه د حقیقی سکې په رنګ و ګرځی مختلف مراتب ئی تیر کړی دی ، په مصر کښې دفرعونانو په عصر کښې چه سکه موجوده نه وه ټول فلزات لکه طلا ـ الکتروم ـ سپین زر ، مس ـ سکه (سرب) لو اوسینه په مبادله کښې استعمالېدل ـ لکه چه د فلزاتو دټوټو مصری تصویرونه په طبیعی صورت څرنګه چه له کان څخه راوتلې اویا په ګرد شکل په کوچنیو کڅوړو (خریطو) کښې یادټوټی ، څېټی ، میلې اونورو اشکالو په صورت چه دویلی کولو عملیات به ئی ورکول بنکاره کوی اوفلزهر شکل چه درلود معیارئی د کوچنې تلې اوترازو (کښې) په واسطه دوزن له منځې سنجول کېده او هر کله چه دیوشی داختلو دپاره هرځل مجبوره کېدل چه دهغه شی دارزښت په برابر فلز ورکړی د هغه کونجونه به ئی سولول او پرېکول ، په آخره کښې دډه کارسخته والی اومشکل توب هغوی مجبور کړل چه په ټاکلو و زنو نو فلزی مقطوعه ټوټی جوړې کړی . وروسته ترهغه مصریانو دسرو اوسپینو زرو کړې او حلقې پیدا کړی چه هغوته (اوتن Outen) وائی اویوه دانه نی په لسو (Skat) باندی ویشل کېږی، اودیوې دانی وزن ئی (٧٢ـ٥) ګرامه ؤ ، دغه حلقی یوډول ګردې (حلقه ئی) سکې وې .

دغه راز کلدانیانو او عیلامیانو هم دغه مراتب تیر کړی او کرار کرار دګردو اوحلقه ئی پیسو خاوندان شوی دی . په آسیائی خلکو کښې د کلدې اوغیلام خلکو دټولونه لومړی فلزات وپېژندل . دهغوی فلزی واحد چه دسکې کارئی ورکاوه (مین Mine) نومېد ، اودغه پیا په دوه ډوله ؤ (لوی مین ) او (کوچنی مین) لومړی ئی (١٠١٠ ګرامه او دوهم ئی ددې په نیمائی یعنی (٥٠٥) ګرامه وزن درلود اولوی او کوچنی په (٦ × ٦ په ٦٠ سیکل Sicle) اصولو ویشل کېدل . حلقه ئی مسکوکانو چه لومړی په مصر کښې وروسته بیاد کلدانیانو او عیلامیانو په نزدرواج موندلی ؤ، که څه هم دضمانت داعتبار نبې ئی درلودلې خو بیاهم هرکله چه دسکې کارئی ورکاوه نوویلې شوچه پخپل نوعیت کښې هغه پرې پخوانی پیسې وې چه انسان دلوېدیزې آسیا دبحرالروم په سواحلو کښې پېژ ندلې ، خامخا ز مونږ د افغانستان پخوانیو خلکو هم دغه پول مسکوکات لرل ـ باید دا وویل شی چه دټولو ملتو به نزد دفلزاتو دبدلولو دمعیار مفکوره په همدغه اساس نه ده روی کارشوی ، بلکه لومړی وختونه ئی په لحینو ځایو کې په ټل پول هم وه ، اودهغوی دمسکوکاتو د قضیې لومړی حالت دفلزی آلاتو ـ افزارواواشیاوو په مبادله شروع شوی دی لکه چه په ختیز افغانستان، اودچین په براخ مملکت کښې دمبادلې معیار واحد (چوړ کیږ ـ کارد) او په امریکا کښې (دسپینوزرو تبرؤ) له هغو ګردو اوحلقه ئی مسکوکاتو څخه چه دمخه مو یاد کړل دلوېدیزې آسیا دحفریاتو په وخت کښې ډېر پیداشول ـ لکه چه د فرانسې مشهور سکه پېژنـد ونکی او فقید پو هاند (دومرګـان) په (١٨٨٩) کال کښې دروس دارمنستان له پخوانیو اډېرې نه په زبات شمېر مسکوکات پیدا کړی او بخپله دده دوینا له منځې هر کله چه د دغو خلقو فلز له آسوری نه راغلی ؤ نودلویو کوچنیو تقسیمات ئی هم دوزن له نقطی نظره څخه دهماغه مملکت او په اصولو سره شوی دی. دغه رنګه دغه ډول مسکوکات که د سرو زرو وواو که دسپینوزرواو یاد مسود (سوسو )دمعبد وله بنسټ څخه هم ډېر بلاس راغلی دی، اولکه چه (موساو موریس بزارډ) (٧٧) طلائی حلقې وزن اوتول کړی دی چه وزن ئی یـو دبل نه فرق اواختلاف درلود ـ اواختلاف ئـی د (٦٥) ګـرامو او (٤/٥٠) ګرامو ترمنځ تفاوت لری . دغه مسکوکات د کوتـې په شکل دی چه کړی ـ اوحلقی ئی تر ل شوی نه دی ، اوقطرئـې (١٥) ملی متره دی . نوویلی شو چه په دوه زره ق م یعنی په هغه عصر کښې چه د دغو معبدو تاریخ ورته منسوبوی پـه مـو ـه او دقفقاز په لحمکو یعنی د آسیا په لوېدیزو سیمو کښې فلزات دحلقې په ډول جوړشوی وو چه معاملې او ورکړې را کړی او په اجناسو سره دهغو مبادله اسانه وی . مګر تردغه وخته پورې هم دپیسو کارنه ورکاوه اودجنس رول ئی لوباوه اودجنس په صورت مبادله کېدله . وروسته هرکله چه داجتماعی ژوندون میدان پر اختیا ومو ندله او په دغه صورت کښې دلړتیا وو او احتیاجاتو دائره هم ډېره براخه شوه دورکړی را کړې اودپلورلو او پیرودلو معاملې زیاتی شوې، تجارت هم پیداشو او په نتیجه کښې دفلزاتو استعمال هم زیات شو . نو په دغه وخت کښې ددې دپاره چه دتګی ر اوتقلب مخه ونیولا شی اوتقلب دوزن په لحاظ نه بلکه دفلـز

دصافوالی دمعیارله نقطی نظره څخه مخه ونیوله شی ، دهغه رخت اجتماعیه قواوی اویا سودا گرخانې په دې فکر کښی شوې چه دفلز توقی په نښه کړی، لکه چه په قلم اوهټك او سندان سره به ئی پریکړی شوی فلزات په نښه کول چه دعوامو په نزد دوزن په تیره بیا دفلز دصافوالی په لحاظ اعتبار ولری . او دغه دمسکوکاتو دپیدا کېدولومړی مرحله ده چه داوومې ق م پیړۍ سره تصادف کوی . لخینی خلك دنښه شوو مقطوعه فلزاتو داختراع نسبت دکوچنیۍ اسیاد پخوانی مملکت ( لیدی Lydie) دپای تخت ( سارد Sard ) دښار خلکو ته او لخینی ئی ( اژین Egine) دجزیرې یونانی اوسېدونکو نه کوی . دغه جزیره د ( اژین) په خلیج کښی واقع ده، مګر هر کله چه د(لیدی) خلك پخوانی اوپه تجارت کښی له نورو نه مخکښی دی نو ټول خلك دنښه شوو مقطوعه فلزاتو اختراع دوی ته منسوبوی او وائی چه په اتمه قبل المیلاد پیړۍ کښی د(مرمنارد Mermnerds) سلطنتی کورنۍ موسس (ژی جس Gyges ) هغه سړی دی چه نښه شوی پخوانی مقطوعه فلزات ئی میدان ته را ایستلی دی چه وزنونه ئی له (١٠/٨٢٠ ګرامو نه تر ١٤/٢٥٥ ) ګرامو پورې فرق کوی.اودبابلیانواوفنیقیانو د(استاترس Stateres ) له مخی تقسیمات لری . دغه ټول ټه ټول ته مسکوکات دشکل له مخې غیرمنظم او مختلف اوعموما ګردوالی اوبادامی شکل ته مائل دی . په یو مخ باندی ئی عموما په سندان باندی دضرب دنښو ردي. او په بله خوا باندی ئی هغه نښی معلومیږی چه په قلم اوهټك سره ئی کړی دی دلحینو نورو یو مخ ژور اوغیر منظم اوپه بل مخ باندی ئی دوه ګیډی ران (روباه) د لخاستی په حال کښی لېدل کېږی. دلیدی دبل پاچا (کروسس Croesus ) په زمانه کښی چه د ٥٦٨-٥٥٤ق م کلونو ترمنځ ئی پاچائی اوسلطنت کړی دی ، سکه یو ګام مخکښی تللی او صنعتی خواس ئی پیدا کړی دی ، لکه چه د مقطوعه فلز په ښی مخ باندی دزمری اوخوائی ګیډی مقابل بدن یو نیله مخامخ ، او په بل مخ باندی ئی دوه مربعه ژووالی معلومیږی ، کوم چه هم هخامنشیانو د کوچنیۍ آسیا دفتح کولو نه وروسته سکه وپیژندله خو سره ددې په هغو زمانو کښی چه د آسیا دلوېدیزی برخی سره ددوی دلومړی تصادف اومخامخ کېدو وختونه وو - پخپله دوی سکه ونه وهله د(هرودوت) دوینا له مخې د(هشتاسپ) لومړی اومشر زوی (داریوش) په هخامنشیانو کښی سکه رواج کړه هر کله چه د آسیائی سواحلو سره په تیره بیا د کوچنیۍ آسیا دلیدیانو سره چه دلومړیو بې نښو پریکړی شوو فلزاتو مخترع وو د یونانیانو تجارتی روابط ډېر زیات وو ، نودغه کار دهغوی په زمانه کښی هم رواج وموند اوهر کله چه دوی یو سودا گر قوم ؤ نو تجارتی معاملو اوور کړی را کړی ته ئی ډېر احتیاج درلودنو دهخامنشیانو نه پخوائی دفلزاتو په ضرب ولولاس پوری کړ . اودیونان هرولایت اوښار پخپل حساب اووزنونو سکی جوړی اومیدان ته راوایستلې اوهر کله چه هخامنشیانو چه په دغه وخت کښی ئی د آسیا په لوېدیزه برخه کښی حاکمیت درلود پیسو او سکوته توجه ونه کړه ، په بابل اود آسیا په نورو برخو کښی هماغه دفلزاتو پریکړی شوی توقی پاتی شوې ، اویونان دمسکو کاتو خاوند شو د آسیائی سواحلو نورو هېوادونو هم دمسکوکاتو په ضرب ولو شروع وکړه ، اوهخامنشیان هم دنورو په سیالۍ او تقلید په دغه کار بوخت شول لکه چه (انومانت F.Menotmant) په پخوانیۍ زمانه کښی دمسکوکاتو د کتاب دووهم جلد په درېم مخ کښی ) وائی: لومړی داریوش دطلاوو ضرب ول دخان دپاره مخصوص کړل اونورو نائب الحکومه ګانو اوښارونوته ئی اجازه وکړه چه دسپینوزرو اومسوسکیووهی مګر فرانسوی سکه پېژندو نکی (دومو ګان)دده قول صحیح نه بولی اووائی چه نائب الحکومه ګان اوښارونه دخپلو مسکوکاتو دفلز په ټاکلو کښی آزاد وو دهخامنشی د زمانی شاهی سکه دسرو زرو سکه وه چه(داریك) نومېده او (٨/٤٢ ) ګرامه وزن ئی درلود ـ اودوزن په لحاظ د ( فوسه ـ Phocee دکوچنیۍ اسیا دښار د سکی د نیمائی سره برابره وه ، لکه چه د ( فوسی ) دښار سکی (١٦/٨٤) ګرامه وزن درلود . د هخا منشیانو دسپینو زروسکه ( سیکل Sicle ) نومېده او ( ٥/٦٠ ) ګرامه وزن ئی درلود . دریم داریوش په زمانه کښی د طلا وو د وه چنده ( داریك ) د ( ١٦/٦٥٠) ګرامو په وزن هم راووت ، یونانیانو عموماً یعنی هغو یونانیانو چه دهخامنشیانو تر تصرف او قبضی لاندی وو او که نه وو ( الکترم ) یعنی دهغه فلز نه به ئی سکه ضرب وله چه درې برخی به ئی سره زر او یوه برخه به ئی سپین زروو . پخپله هخامنشیانو کله دمغر غونه سکه نه ده ضرب کړی . د هخامنشیانو شاهی (داریك) او سیکل دیونان دپخوانیو سکو په شان ګردؤ . دسکی په مخ باندی یا چا لخنګونا ست دی او په لخان کښی ئی (کندل Candyle) او په سرئی (سیدارس Cidaris) یوډول ګرده پره داره خولۍ ده، په کښ لاس کښی ئی لنده او په ښی لاس کښی ئی نیزه خنجر، یاغشی دی . دسکی په شامخ باندی د دریم داریوش تر زمانی پوری هېڅ شی نه ؤ، بیله هغه سوری نه چه د ضرب په وخت کښی په سندان باندی کېښو دل کېده ، د دریم داریوش په زمانه کښی دسکی په شا باندی هم ساده اشکال لکه دوې نوی میاشتی شا په شا، مواج خطونه او نورشیان پیدا شول . دغه مسکوکات لیك اونوشته نه لری یوالحی لخینی دسکی په مخ باندی دضرب نښه یا بل حرف لری چه تراوسه پوری نوستل شوی ندی . اوس چه داسیا په لوېدیز کښی دسکی دپیدا کېدو مبدأ او دهغی تدریجی مراتب ولېدل

شول غواړو و گورو چه دافغانستان په ځتیز اودهند په سحرنا که ځمکه کښې مسکوکات څرنګه وو، اوس مراتب ئې طی کړی دی. هندیانو دچینائیانو اوزباترو نورو آسیائی هیواد و په شان د قبل التاریخ په ټولو زمانو کښې خامخا بحری صدف (سیپراء) د اجناسو په مبادله اړ دخیلو بلورلواو ټیرودلو په معاملاتو کښې استعمال کړی دی ، او هرکله چه ورسته بیا په لیږې ختیز کښې په یوه زمانه کښې دصدفو اوفلز استعمال هم رواج درلود ، کیدی شی چه دهند ددغو صدفو یادلومړنیو پیسو دارزښت معیار اواندازه وټاکل شی (کودی) دهند دپیسو ډیر کوچنی واحدؤ ، دهغه نه ورسته ( گندا Ganda) دهلورو (کودیو) په معادل اوبرابرؤ ـ اودده نه پورته (پانا Pana ) وه چه شل (گندا) یاانیا (کودی) کیدل چه دوزن په لحاظ د (۹/۳۳۰) گرامو سره برابره وه . له دغو شیانو نه جګ (تنګه Tangka) یا( Ana ) راتله چه دهلورو (پانا) برابرېده) ، اووروستی ئی ( کرشه Karsa) لوړاوعالی واحدؤ چه یوه دانه ئی دهلورو (تنکو) سره برابره اود (۱٤۹/۲۸۰) گرامو مسو په اندازه اود (۳/٦۲۸) گرامو سپینوزرو په اندازه کیدله . په دغو حسابونو سره هغه عجیب شی چه موندلی ئی دی دادی چه دسپینو زروهندی (کرشه) سکه دوزن له مخې دفنیقیانو د(سیکل) دسکی سره بیخی برابره ده ، اوددې نظریې په اساس مؤرخین وائی چه دفنیقیانو سکه یا پخپله ددوی په ذریعه یادعربی مانو ګانو په واسطه چه دتجارت دپاره هندته راتلل په دغه هیواد کښې پیداشوې اوخپره شوې ده ، ورو سته بیا ، مقدونی نفوذ داسکندر په واسطه خپورشوی دی. دهند پخوانۍ سکه چه دسپینو زرو اومسی ده دنیه شوو توته توته اومقطوعه فلزاتو په شکل ده. مګر له دغو نیوخځه په هیڅ صورت نه دضرب ځای او نه ضرب وونکی معلومیږی ، تقریبا په همدغه زمانه هند کښې دمفرغو قالبی سکی هم پیدا شوې ، ځینی سکه پیژندونکی پوهان دهند دسکی لومړی وختونه یوزرقبل المیلاد کلونو ته رسوی مګر (دومرګان) دختیز دمسکوکاتو دکتاب ددوهم ټوک په (۱٤٤) مخ کښې وائی چه په دغه نظریه کښې مبالغه شوې ده اواحتمال لری چه ددغه هیواد دمسکوکاتو لومړی وختونه دیخامنشی یاشیږمی (ق م) پورې په شاؤ خوا کښې شروع شوی وی . (دومرګان) داهم وائی چه داهم معلومه نه ده چه آیا په هند کښې دسکی اختراع محلی او بومی ده او که دخارج نه ورغلی ده ؟ که چیرې له خارج نه اخستل شوی وی دهخامنشیانو فنیقیانو اودیونانیانو دنفوذ اثرات پکښې پیداشول . لنډه داچه دغه بی نوم ؤ نښان مسکوکات یالکه چه دخیلو کتنواومطالعاتو په لومړی ځل برخه کښې مو بیان اوتعریف وکړو ، دغه نښه شوی فلزی ټوټی دهند په ټوله خاوره کښې مروجې اومعمولې دې ،او شکلونه ئی عموماً ګلور کونجه (مربع) اواوږده وو ، اوهغه نښه چه به کیدله خاص دسکی په مخ باندې وه . اوپه بله خوا باندی ئی نوم ؤ . دهغو کتنو اومطالعاتو له مخې چه شوی دی له دغو نښو غوعلامو څخه دری سوه مختلف رقمه نښې په هند کښې مو ندل شوی دی، اوس چه دمسکوکاتو دپیدا کیدو عمومی تاریخچه په پوره اندازه بیان شوه غواړو چه د افغانستان په باب کښې د عمومیاتو په څانګه کې څو کرښې هم ولیکوو روسته بیا په خصوصی صورت پخپل مملکت کښې د مسکوکاتو دمراتبو تغیرات بیان کړو . طبیعی ده چه زمونږ په افغانستان کښې هم داشیاوو مبادله لومړی دجنس په صورت شروع شوې ده ، وروسته بیالکه چه په لوېدیزه آسیا کښې اجناس زیاتره په حیواناتو سره مبادله کیدل ـ په افغانستان کښې هم خامخا دغه معامله مروجه اومعموله وه ، لکه چه اوس په نورستان کښې هم ځینی شیان د(غواوو) په مبادله اخستل کیږی . دغه راز په صدفو سره داشیاوو بداون هم په افغانستان کښې یوه دوره درلوده . او ویلی شو چه زمونږ په مملکت کښې دغه دوره اوږده وه لکه چه تیرلوې پیړۍ پخوازمانې پورې هم دهغو معاملاتو په یادونه ئی په بازارونو کښې کودبان اخستل ، اواوس هم دبی ارزښتو شیانو په باب کښې وائی چه (په یو کودی هم نه ارزی) وروسته ترهغه دسپینو زروا ومفرغو توته اومقطوعه فلزاتو هم خپل مراتب تیر کړی دی، لکه چه په دی وروستیو وختونو کښې دمرنجان دغونډۍ په لمن دحضوری چمن له کول څخه ډیری سکی موندل شوی دی چه نوشته نه لری . اویوالځی مخصوصی نښې او علامی لری اودوطن دمؤرخ شاغلی احمدعلی کهزاد په عقیده دنښه شوو فلزی ټوټو اومقطوعاتو په جمله کښې حسابیږی. په آسیائی هیوادو کښې دمسکوکاتو وضعیت په دغه پول ؤ چه داسکندر دلښکرو چپاوونه شروع شول . داسکندر فتوحاتو په اولو وختو کښې دمفتوحه اونیولو دولتو په مسکوکاتو باندی څه تاثیرونه کړ بلکه دیونانی فاتح مسکوکات دختیز ترنفوذ لاندی راغلل ، لکه چه د اسکندر په ځینو سکو کښې لومړی حرف دهغه ځای نوم په فنیقی رسم الخط لیکل شوی دی چه په هغه ځای کې ضرب شوی دی. سربیره په دې په څلورو سکو کښې چه اسکندرد (هیراپولیس Hierapolys) یاد (بام لیس Bamlyc ) پښتار کښې چه دشام له بشارونو څخه دی ضرب کړی دی ده نوم به سامی رسم الخط لیکل شوی دی ـ دغه پول څو موده نورهم یونانی مسکوکات دختیز دسکو ترنفوذ لاندی وو . لکه چه ۲۵ کاله چه دهخامنشی دامپراطو ری له سقوط نه د اسکند ر ترمرګ پورې تهرښزی دیونانیانو مسکوکات د هخامنشی په سبک اوطرز ضربیدل ، داسکندر دمرګ نه ورسته هرکله چه دلوېدیزې آسیا لویه برخه د سلو سید یانو په لاس ورغله ،نودوی خپل مسکوکات په یونانی مخصوص طرز و ګرځول خوتر دغه وخته پورې هم په ځینو سکو کښې لکه هغه مسکوکات چه په (فنیسی Phenicie ) سیمه ( دشام دلوېدیزو سواحلو په غاړه ) کښې ضرب شوی دی تردغه وخته پورې د ضرب دکارخانی

نوم په‌سامی رسم‌الخط لیکل شوی‌دی . مګرځوموده وروسته دختیز وروستی اثرهم دیونانیانوله مسکوکانونه‌لیرې شوی‌دی، اودسامی سلوسیدیانو دکورنیږ په یونانی سلاطینو سره کامله یونانی مسکوکات منځ‌ته راغلل. هرکله چه‌دوی‌خانونه په آسیا کښی داسکندر دمفتوحه‌ځمکو یواځینی وارثان ګڼل، نو ددوی مسکوکات په‌ایران اوافغانستان کښی زیات‌ژ کم خپاره‌شوی‌وو . اوپه‌عین‌زمان کښی‌په‌جنوبی افغانستان کی دهندی‌موریادکورنیږ په‌مداخله اوددوی په‌راتګ او پیشقدمۍږ سره ددې سلسلی دپاچاهانو مسکوکات هم دهندوکش په جنوب کښی خپاره شول ـ همدغه پول دغه‌دتیت‌ژبرك والی وضعیت ترهغه و خته پوری دوام درلود چه د(۲۵۰ق‌م) په‌شاوخوا کښی په‌باختر کښی دیونان خیلواك سلطنت او وروسته ترهغه په‌پارتیا کښی یوبل سلطنت منځ ته راغی اوپیداشو .

که‌څه‌هم په‌افغانستان کښی دپارتی ارساسیدیانو مسکوکات په‌زیاته اندازه پیداکیږی، اوددې سلطنتی کورنیږ موسس هم باختری‌دی، مګرهرکله‌چه‌ددوی معاصرینونانی باختری پاډشاهان په مستقیم صورت د افغانستان د قبل‌الاسلام تاریخ‌جز، دی، دارساسیدد مسکوکاتو په باب کښی مویوشه بیان‌وکړ، اوس دباختری یونانیانو دمسکوکاتو په بیانولوشروع کوؤ. پارتی ارساسیدیانو یواځی دسیینو زرو او مسوسکی ضرب کړی‌دی، اوددوی طلائی پیسی ندی لیدل‌شوی، ددوی د سیینو زرو سکی ګردې اولوئی او کوچنیږ دی، اوددوی دمفرغو مسکوکات دلومړی (مهردا) اودده دجانشینانو به‌زمانه کښی ډیرکوچنی شول د(ارساسید) دکورنیږ دمسکوکاتو په مخ باندی عموما لیك اونوشته نه‌لری، بلکه نوشته ئی دسکی دشا په‌طرف‌باندی ده، مضمون‌ئی‌عموما داسی لیکل شوی‌دی‌چه‌هلور کونجه شکل پیداکوی . ددغو مسکوکاتو سنه‌دسلر سید یانو د زمانی‌له‌مخی چه‌مبدائی ۳۱۲ق‌م کال‌دی حساب شوې‌ده دهغوی د مسکو کاتو شامخ ډیر مختلف دی اوعموما هغه سړی څرګندوی چه به تخت باندی ناست‌دی اوپه سرباندی‌ئی مخروطی ګوش پوشك اوپه ښی‌لاس کښی ئی‌لینده نیولې‌ده دغه‌سړی تقریبا دسیینو زرو دتولولوبو اووړو مسکوکاتواودمفرغو دځینو مسکو کاتو ترشا هم‌لیدل کیږی لنډه‌داچه ارساسید پاډشاهانو دشام دسلو سیدیانو دمسکوکاتو تقلید اوبیروی کړې‌ده د ضرب مضمون اوسنه‌ئی لکه چه‌یخوامو وویل دسکی شاخوانه‌دی، او دپاچانوم عموما لیکل شوی‌ندی، اودغه هغه‌ستراشکال‌دی چه ددې سلسلی دمختلفو پاډشاهانو دمسکوکاتو په تاکلو کښی منځ ته راغلی دی . داسکندردفتوحاتو، اودشامی سلوسیدیانو دادعا اودهندی موریا دکورنیږ دتیریونه وروسته د افغانستان ښه او بهتر مسکوکات د۲۵۰ق‌م کال نه‌وروسته د باختری خیلواك سلطنت دجوړیدو له کبله منځ‌ته راځی. په‌دغه وخت کښی هر کله چه افغانستان له‌یوې خواد‌شام دسلو سیدیانو دیونانی امپراطوری‌ږ له‌قلمرونه جداشو، اوله‌بلې‌خوا دموریا د کورنیږ تیری شاته ووهل‌شو. دباختری یونانی پاډشاهانو په‌واسطه چه‌دهندوکش په‌شمال اوجنوب کښی ئی سلطنت کړی‌دی، د افغانستان هغه مسکوکات رائج اومعمول شول چه د(باختر او کابیسا) ضرب ؤ. دغه مسکوکات بیله‌دغه لحاظ نه‌چه باختری اوکابیسائی‌دی، مونږ دهغوتعریف یواځی له‌دې جهته نه‌کوو چه زمونږ په‌وطن کښی ضرب شوی‌دی، بلکه ټول‌سکه پیژندونکی زمونږ قول تائیدوی اوپه‌دې باندی اقرار کوی چه داشکالو او نقشونو په نفاست اورسم‌الخط اودضرب په‌ټولو جهاتو کښی‌ئی په‌یخوانیږ دنیاکښی مثال اوساری‌نه‌درلوده .

لکه چه‌یخیل بنکلیتوب سره‌ترنن ورځی پوری هم د متمدنو مملکتو له‌بهتروسکوڅخه ښې اوښکلې او دوامداري دی، او دیونانی باختری پاډشاهانوهره‌یوه‌سکه‌په‌تېره بیاد(اوتیدموس) او (ایوکراتیدس) مسکوکات دهغو بنکلو نیانو او مدالونو په‌شان دی چه نورساری اومثال‌به‌ئی پیدا نه‌شی. هغویونانیانو چه‌په باختر کښی‌ئی خیلواك سلطنت جوړکړ، لومړی دخپلو مسکوکاتو په‌ضربولو کی یواځی یونانی ژبه استعمالوله لکه چه‌دغه نظریه عموما دهغو پاډشاهانو په‌باب کښی حقیقت لری چه دهندوکش په‌شمال کښی ئی پاچائی کړې ده خوهرکله چه‌په یونانی ژبه باندی څوك نه‌پوهیدل نوڅه ډېره موده تېره نه‌شوه چه‌مجبور شول دپراکریت بومی ژبه‌اوهغه خروشتی رسم‌الخط ئی دخپلو مسکوکاتوترشا استعمال کړ چه دآرامی رسم‌الخط یوه برخه‌وه اودمستشرقینو په‌عقیده‌دهخامنشی دزمانی‌نه‌راوروسته په‌افغانستان کښی مروج اومعمول ؤ ، که‌څه‌هم دیونانی باختر پاچا (ایوکراتیدس) هغه لومړنی سړی دی چه یخپلو سکو کښی ئی دوې ژبې او دوه رسم الخطو نه استعمال کړی‌دی مګردغه رویه زیاتره د افغانستان دیونانی پاډشاهانو دهغی طبقی په نزد معمول له او مروجه وه چه د اسکائیانو ظهور اومیدان‌ته راوتلو هغوی دهندوکش په‌جنوب کښی‌محدود کړل اومسکوکات‌ئی عموما په‌کابیسا کښی ضرب‌شوی‌دی اولکه چه‌دمسکوکات له‌شهادت نه معلومیږی یونانی‌ژبه اورسم الخط تل‌دسکی په‌مخ باندی اوعین ترجمه‌ئی په پراکریتی ژبه اوپه خروشتی‌رسم‌الخط دسکی په‌شا باندی لیکل شوې‌ده .یونانیانو عموما که‌په‌باختر کښی‌وو او که په‌کابیسا کښی دسکی‌په‌مخ‌باندی خیل‌تصویرونه اودسکی په‌شا باندی یونانی ارباب‌الانواع لکه زوس هراکلس پالاس‌ـ ار تمیس اپو‌ـ پوزیدون اوداسې نور په‌بیلوبیلو وضعیتونو ضربول مګر هغو پاډشاهانو چه یواځی دهندوکش په‌جنوب کښی ئی پاچائی کړې ده سربېره په دې چه دخپلومسکوکاتو په‌شاوخوا باندی ئی بومی ژبه اورسم الخط

عمومیت لری ، لحینی وختونه ئی دمحلی ارباب الانواعو تصویرونه هم پخپلو سکو کښی ضرب کړی دی لکه چه دمسیو فوشه په نظر یه د(ایو کراتیدس) لحینی مسکو کات چه دکاپیسا یه شمار کښی ضرب شوی دی ددغه شمار مخصوصه رب النوعه هرگندوی . په هرحال دهندو کش یونانیانو د(هرمایوس) تر زمانې پوری (٥٠-٥٤م) چه دکابل دملك وروستی یونانی پاچادی پراکریتی ژبه اوخروشتی رسم الخط د مسکو کاتو په کینه خوا استعمال کړی دی. اوحتی که چیری په مسکو کاتو انکاوشی په آخر وختو کښی دین، لباس، ژبی اورسم الخط په لحاظ له پخوانه زیات زمونږ دمملکت اومحیط تر تاثیر اتولاندی واقع شوی وو لکه چه د(مناندر) اوحتی د(دمتریوس) لحینی مسکو کات دډې مدعا شاهدی دی . دهندو کش دجنوب یونانی پادشانو تو لې دمسو اوسیینو زروسکی ضرب کړی دی . دیو نانیانونه ورو سته داسکائیانو او ددوی دپادشاهانو یاد (هندو پارت) دچپاوونو اوتهاجمونو په زمانه کښی دافغانستان مسکوکات کاملهدسپینوزرو اومسی دی . اوضرب ئی دسبك، ژبی رب النوعی اودنورو په لحاظ تقلیدی دی . یعنی خپل کوم نوی شی ئی نه درلود ، بلکه دیونانی باختری پاد شاهانو دمسکو کاتو له مخې ئی چه په افغانستان کښې په زیات شمیر موجود دی تقلید کاوه ددغو مسکو کاتو لیکنې د هندو کش دجنوب دیونانیانو دزمانې په شان دسکی په شی مخ باندی یونانی اودسکی په کینه خواپراکریت په خروشتی رسم الخط سره وې . هغو اسکائیانو چه دباختر دفتح نه وروسته د سیستان اوارا کوزی (قندهار) دلارې نه داندوس ( سند) حوزې ته راښکته شوی دی اوپه پنجاب اودافغانستان په ختیزه برخه کښی ئی حکومت کړی دی هم په دوو ژبو سکه وهلې ده . دغه رنګه دسیستان او قندهار پهلوایانو چه ددوی دشاهی کورنۍ مؤسس (ونونس) بولی دسکی پرمخ باندی په یونانې ژبه سربېره پراکریت ئی په خروشتی رسم الخط دخپلو مسکو کاتو په کینه خواباندی استعمال کړی دی . له دغو بیاناتونه معلومېږی چه داسلام نه پخوا زمانو کښی ډېره موده پراکریت ژبه اوخروشتی رسم الخط چه هغه ته (باختری) یا (اریو باختری) رسم الخط هم وائی تقریبا په ټول افغانستان او پنجاب کښی معمول اومروج وُ او که داسی نه وی نو بومی ژبه او رسم الخط بلل کېږی او په مسکو کاتو کښی نه استعمالېږی . هغو کوشانیانو چه دهندو کش له جنوب نه ئی دیونانیت وروستی عناصر وشړل هم دمسکو کاتو په لحاظ کوم نوی شی منځ ته راونه ایست، بلکه کامله دهغو مسکو کانو تقلید ئی وکړ چه په افغانستان کښی دهغوی دراتګ په وخت کښی معمول اومروج وو لکه چه (کجولا کدفیزس) چه یونانی (هرمایوس) اودهلیزم وروستی عناصر دهندو کش له جنوبی برخو څخه محو کوی ، په تقلید کښی تردې درجې پورې مبالغه کوی چه په هغو مسکو کانو کښی چه دهرمایوس تصویرلری خپل نوم ضرب وی، اوحتی په لحینو مسکو کاتو کښی ددوی دواړو نومونه لیکل شوی اویاد شوی دی . وروسته بیائی دیونانی هرمایوس نوم کامله له منځه نه وړی اوخپل نوم ئی ضرب کړی دی. مګر یونانی رسم الخط اوژبه اوحتی دهرمایوس تصویر دده په ټولو مسکو کاتو کښی پاتی شوی دی . سربېره په دې په لحینومسی مسکو کښی ئی یوسرضرب کړی دی چه دسکه بېژندونکو دنظر یې له مخی د(اګوست) دروم د امپراطور دسکی څخه تقلیدشوی دی دده نه وروسته د (ویما کدفیزس) اودهغو نورو کوشانیانو په زمانه کښی چه د(کنیشکا) نه وروسته راڅې کوشانی مسکو کاتو کرار کرار مخصوص خواص پیدا کړل یونانی رسم الخط کم کم ترهغی درجې پورې تغیر وکړ اوخراب شوچه په آخره کښی له لوستلونه وځی اودیونانی ارباب انواعو ځای کرار کرار باختری محلی ارباب انواعو لکه میرو ، مهر لمر «ماءو» (میاشت) اوهندی ارباب انواعو لکه : شیوا ـ نانا اوداسې نورو ونیو (ویما کدفیزس) له مسو اوسرو زرونه سکه وهلې اوعموما دسکی په شی خواباندی په کوشانی لباس و لاړ معلومېږی ، دده دسکی په کینه خواباندی بلا استثناد (شیوا) شکل ضرب شوی دی . (ویما کدفیزس) په مسکو کاتو کښی مجلل اوسترعنوانونه غوره کړی اوځان ئی (ستر پاچا ـ شهنشاه باواردینا دشیوایېرو) بللی دی . په مسکو کاتو کښی د کنیشکا تصویر د(ویما کد فیزس ) دولاړ تصویر سره مشابه دی اوددده دصورت ګرچاپېره عموما د نورهالې لپدل کېږی سرو زروپه کوچنیو سکو کښی په نیم تنه یادتنې دهلورمی برخې په صورت تمثیل شوی. د کنیشکادمسکو کاتو په کینې مخ باندی ټول یونانی، باختری اوهندی ارباب انواع لپدل کېږی. (هوویشکا) دسروزروسکی ډېرې لری . په لحینو سکو کی یواځی دده سر اوپه لحینو نورو کښی دده دبدن نیمه تنه ضرب شوې ده . په مسی سکو کښی یا په فیل باندی سپوردی اویا په تخت باندی اوزدغږ بدلی دی. اویا دپلتنې (چهارزانو) په وضعیت ناست معلومېږی. د (واسودوا) نه وروسته کوشانی خارجی قواوې ضعیفی شوی او قلمروئی دکابل ددری او ګندهارا په لحمکو سره محدودی شوی او هغه مسکو کات چه د (کانیشکو) او(واژو) په نامه ئی لری ددوی همدغه ضعف اوانحطاط په زمانی پوری اړه لری . د هیاطله وو دچپاوو او ددوی دسقوط نه وروسته هغه کوشانیان چه دچترال غرونو ته ئی پناه وړی وه دکابل ناوی ته را ښکته شول اوله دوی څخه محو تنه پاچاهی ته ورسېدل چه دکوچنیو کوشانیانو په نامه بلل کېږی ، اودوی ته معمولا (پنکی) هم وائی. ددوی مسکو کات عموما د سپینو زرو اومسو نازکی سکی دی ، ددوی دسکو یه شی مخ باندی عموما د پاچا شکل او د(پنکی ملك) کلمات او دسکی ترشا په منځ کښی دوه پښې

اوددې په‌دواړو خواکښې دوه تنه معلومېږي . سربېره په دې دسکې په‌دغه‌مخ باندې لخینې وختونه د (شاه) کلمه هم لوستل کېږي دغه‌مسکوکات دشکل اواندازې په لحاظ د ساسانیانو سکوته ورته‌دي، اودهغو کسانو دکالیو اوګانو له‌حیثه چه‌ددغو سکو په‌مخ باندې ضرب‌شوی‌دي دهندیانوسره نژدیکت‌لري. دغه لابرېږده هغه‌وروستي قسمت‌سکې چه‌په هغو سره د افغانستان داسلام نه‌دېخوا زمانې مسکوکات تمامېږي د سپینو زرو اومسو سکې‌دي چه‌عموما دعواموپه‌نزد د(فیل سوار) او(ګاو سوار) په‌نامه‌مشهورې‌دي دغه‌مسکوکات دهندوانو به‌یوتولګي پادشاهانوپورې مربوط دي چه په تاریخ کښې (هندوکابل شاهان) په‌نامه یادشوي دي ، اوهر کله‌چه دکابل د سیمې وروستۍ کوشانۍ اولاده کرارکرار ضعیفه شوه اوله منځه لاړه ددوی ځای‌ئې‌ونیو اوسلطنت‌ته ورسېدل . لکه چه‌البیرونې په‌دغه‌باب کې اشاره کړې اووائي چه‌دکابل دوروستي کوشانۍ‌پاچاځای چه(لاګتورمان Lagaturman) نومېد دغه بر غمنې وزیر (کالار Kallar) ونیو اود(هندو پادشاهانو) سلسله ئې منځ ته راوړه دغه‌تولګي پادشاهانوچه د(۸۷۵ نه تر۱۰۰۰م) پورې ئې‌پاچاهي کړې‌ده داسلامي فاتحینو د راتګ په وخت کښې اوله‌هغه‌نه خومووده وروسته هم په‌کابل اودهغه په ختیزو مخکو کښې حکو متونه کړي دي . دفرنګ سکه ېپژندونکو ددې سلسلې مسکوکات دنقشونو له‌مخې په‌دوه برخو ویشلي دي :

۱- په غوائي سپور قسم . ۲- په فیل باندې سپور رقم .
۳- دزمري او طاؤس رقم .

ددغو مسکوکاتو په ښې مخ باندې عموما د غوائي او فیل شکلونه اودهغو په شاته مخ باندې لخینو وختونه پاچا په اس باندې اولخینې وختونه دزمري شکل ضرب شوی دي .

له‌دغومسکوکاتونه که‌څه‌هم‌غوائي شکل‌اوفیل‌شکل‌اولاسکي‌له مسونه ډېرې زیاتي دي مګر له‌هغه قسم نه‌چه زمري او طاؤس وربانديي نقش دي یواځي یوه دانه په‌لاس راغلې ده او دلندن په(برتش موزیم) کښې موجوده ده .

## دیونانی‌باختر پادشاهانو مسکوکات :

(دیودوتس) چه د(سلوسید) دکورنۍ د یونانی پادشاهانو له‌خوا دباختر په(بکتریان) کښې‌حکمران‌ؤ د(۲۵۰م) په‌شاؤخوا کښې د خپلواکۍ اعلان وکړ . اوله‌دغه تاریخ نه وروسته په (آریانا) یعنې افغانستان کښې یونانی خپلواك سلطنت‌جوړېږي چه‌مرکزئ ترخومودی پورې‌دهندوکش په‌شمال کښې د(بکتر) ښارؤ ، اودکوشان داسکائي چپاوو نه وروسته په داسې حال کښې چه دیو نانیانو نفوذ دهندوکش په جنوب پورې محدود کېږي کاپیسا یا اوسنې بګرام ته نقل کیږي . دهندوکش له‌شمال‌نه د یونیانو نفوذ په(هلیوکلس) سره ،اودکابلستان‌څخه په (هربالوس) سره د مسیحي زمانې دشروع کېدو په شاوخوا کښې په آخره کښې پای ته رسېږي . ددوی مسکوکات تر یوې زمانې پورې یواځې په‌یونانی ژبه‌اووروسته تردې‌چه‌دهندوکش جنوب ته منتقل کېږي ، دافغانستان په دوو ( یونانی او د پراکریت ) په‌ژبو او په‌یونانی اوخروشتی رسم‌الخط ضربېدل. نور تفصیلات‌ئې‌په‌دغه‌ډول دی :

دیودوتس Diodotos د(۲۵۰-۲۴۵ق م) په شاؤخوا کښې .
۱- د سروزرو ګرده سکه :
الف - وزن د (۱۳۰) ګرینو سره برابر .
ب- اندازه د(۰/۷۵) انچوسره برابره .
ج- دسکې په مخ باندې دپاچا سر په‌ښې نیم مخ .
د - دسکې په شاوخوا باندې دیونانی رب‌النوع (زوس) ولاړ تصویر .
دیودوتس پاچا .
۲- دسپینو زرو ګرده سکه :
الف - وزن د(۲۵۵) ګرینو سره برابر
ب- اندازه د(۱/۱) انچ سره برابره .
ج- دسکې پرمخ باندې د پاچا سر .
د - دسکې په ځیني مخ باندې د(زوس) ولاړ تصویر .
د یودوتس پاچا .
۳- د مسو ګرده سکه :
الف- وزن د (۱۶۹) ګرینو سره بوابر .
ب- اندازه د(۰/۷۵) انچو سره برابره .
ج- دسکې په‌مخ‌باندې دپاچا صورت لیدل کېږي چه په‌سر باندې د (کوسیا) مقدونوی خولۍ ده چه دبارانی خولۍ په شکل ده .
د - دسکې تر شا : دجنګ رب‌النوع (پالاس - Pallas) دیودوتس پاچا - او تیدموس (Euthydemos) د (۲۲۰ق م) په‌شاوخوا کښې .
٤- د سپینو زرو ګرده سکه :
الف - وزن د(٦۰) ګرینو سره برابر .
ب- اندازه د (۰/٦٥) انچو سره برابره .
ج- دسکې په‌مخ باندې : دپاچا تصویر په‌نیم مخ .
د - دسکې په کینه‌خوا باندې: یونانی‌رب‌النوع (هیراکلس) بربنډ په‌تیزه‌ناسته دی اوپه‌ښې‌لاس کښې ئې‌دلرګی‌یوه لګرۍ‌ده.
٥- مسې ګرده سکه :
الف : وزن د(۱۱۰) ګرینو سره برابره .
ب - اندازه د(۰/۹) انچو سره برابره .
ج - دسکې په‌مخ باندې : دهراکلس زیرور تصویر .
د - دسکې ترشا : آس د خیز وهلو په حالت .
دمتریوس (Demetrios) داوتیدیموس زوی د(۲۰۰ ق م)

په‌شاوخوا کښی دهندوکش په‌جنوب او پنجاب کښی ئی سلطنت کړی‌دی . دغه پاچا دسپینو زرو او مسو نه سکی ضرب کړی اوڅان ئی (دمتریوس پاچا) بللی‌دی .

٦- د سپینو زرو گرده سکه :

الف - وزن (٢٥٥) گرینه .

ب - اندازه د(١/٣) انچو سره برابره .

ج - دسکی په مخ باندی د پاچا صورت په‌بښی نیم مخ‌نقش شوی اوپه سرئی دفیل دسر په‌شکل خولی‌ر ده .

د - دسکی ترشا : هراکلس بربنډ ولاړ دی .

٧- مسی گرده سکه :

الف - وزن د(١٢٦) گرینو برابر .

ب - اندازه د(٠/٩) انچو سره برابره .

ج - دسکی پرمخ : په‌دغه څای کښی پاچا زیره لری اوپه بښی نیم مخ لیدل کیږی .

د - دسکی ترشا : یونانی رب‌النوعه (ارتیمس Artemis) ولاړه‌ده . دغه‌پاچا ځلور کونجه مسی سکی هم‌لری چه‌دسکی ترشا په خروشتی رسم‌الخط لیکل شوی دی .

دوهم او تید،وس دلو مړی او تید موس زوی : دغه پاچا دسپینو زرو ،نیکلو اومسو سکی ضرب کړی‌دی .

٨- دسپینو زرو گرده سکه :

الف - وزن د (٢٦٠) گرینو سره برابر .

ب- اندازه‌د (١/٣) انچوسره برابره

ج - دسکی په‌مخ باندی : دپاچا صورت په‌نیم تنه‌ډول .

د - دسکی ترشا : دهراکلس ولاړ بر بنډ تصو یر .

٩- د نیکلو گـرده سکه :

الف - وزن د (١١٠) گرینو سره‌برابر .

ب - اندازه د (٠/٩٥) انچو سره‌برابره .

ج - دسکی په‌مخ‌باندی :دپاچا نیم‌تنه تصویر .

د - د سکی ترشا : درې ستنې .

١٠- مسی گرده‌سکه : دغه‌سکه هم‌د(٩) سکی په‌شان‌ده، خو وزن ئی لږدی .

پانتا لئون (Pantaleon) د (١٩٠ق م) په شاو خواکښی) دسکی په‌مخ باندی په پراکریتی ژبه ، او دسکی په شاته مخ باندی په یونانی ژبه لیکنه لری ، اوڅان‌ئی (پانتالئون) پاچا بللی‌دی . دغه پاچا زیاتره له مسونه سکی ضرب کړی دی .

١١- مسی ځلور کونجه (مربعه) سکه :

الف - وزن د (١٦٥ ) گرینو سره برابر .

ب - اندازه د(٠/٨) انچو سره برابره .

ج - دسکی په مخ با ند ی : یوه نجلی‌ر په شر قی لباس ناڅی (میرقصد) .

د - دسکی ترشا ز مری ولاړ دی .

اگاتوکلس( Agathokles ) د(١٨٥ق م په‌شاوخواکښی) دغه پاچا له‌مسو ،نیکلو اوسپینو زرو نه سکی وهلی او څان‌ئی (اگاتوکـلس پاچا) یا (اگا توکلس ستر پاچا) بللی دی .

١٢ - دسپینوزرو گرده سکه :

الف - وزن د(٢٢٢) گرامینوسره برابر .

ب - اندازه د(١/٥٥) انچوسره برابره‌ده .

ج - دسکی‌په‌مخ باندی، داسکندر سر .

د - دسکی ترشا : یونانی رب‌النوع‌زوس په تخت باندی ناست دی .

١٣ - دنیکلو گرده سکه :

الف - وزن‌د(١٠٥) گرینوسره برابر .

ب - اندازه د(٠/٨٥) انچو سره برابره ده .

ج - دسکی‌په‌مخ باندی : دیونانی رب‌النو ع دیونی زوس نیم‌تنه تصویر .

د - دسکی ترشا : پرا نگ ولاړدی .

١٤ - مسی ځلور کونجه‌سکه :

الف - وزن‌د(١٨٥) گرینوسره برابر .

ب - د(٠/٧٥) انچو سره برابره ده .

ج - دسکی په‌مخ باندی : د(١٥)سکی په‌شان .

د - دسکی ترشا : د(١٠) سکی‌په‌شان انتی‌ماکوس ته‌اوز ( Antimachostheos ) له‌سپینو زرو اومسونه سکی وهلی اوڅان ئی‌د(ته‌اوس - ستر) په لقب‌یاد اوبللی دی .

١٥ - دسپینو زرو گرده سکه :

الف : وزن‌د (٢٥٠) گرینو سره‌برابر .

ب : اندازه د(١/١) انچ سره‌برابره ده .

ج - دسکی‌په‌مخ باندی : په‌نیم‌تنه‌ډول دپاچا تصویر .

د - دسکی‌ترشا : دبحر ونو رب النوع ( پوز ریدون ) (Posridon) ولاړه دی .

ایو کراتیدس (د١٧٥ ق‌م په‌شاوڅواکښی) له‌سپینو زرواو مسونه‌ئی‌سکه ضرب کړې اوڅان ئی (ایو کراتیدس‌پاچا) بللی‌دی.

١٦ - دسپینو زرو گرده سکه :

الف - وزن د(٦٥) گرامینو سره برابر .

ب - اندازه د(٠/٧) انچو سره‌برابره ده .

ج - دسکی په‌مخ باندی : دپاچاسر .

د - دسکی‌ترشا : اپولو (یونانی رب‌النوع ) ولاړدی اوپه بښی‌لاس کښی‌ئی غشی اوپه کین لاس کښی‌ئی لینده ده .

١٧ - مسی گرده‌سکه :

الف - وزن د(٨٨) گرینو سره برابر .

ب - اندازه د(٠/٨٥) انچو سره‌برابره‌ده .

ج ـ دسکی په‌مخ باندی پاچا په‌داسی‌حال کښی په‌نیم ښی مخ لېدل کېږی چه فولادی خولېر ئی‌په‌سر کړې‌ده .

د ـ دسکی ترشا : دسهار اوماښام ستوری (دیوسکوری) په اسونو سیاره دی .

هیلوکلس (Heiokles) د (١٤٠ ـ ١٥٦ق‌م په شاؤخواکښی) په‌سپینو زروواومسو باندی‌ئی‌سکه‌وهلې اوځان‌ئی(هیلوکلس‌پاچا) بللی دی .

١٨ ـ دسپینوزرو گرده سکه :

الف ـ وزن‌د (٢٤٦) گرینو سره برابر .

ب ـ اندازه د(١/٣) انچو سره برابره‌ده .

(ج) دسکی په‌مخ باندی : په‌نیم تنه‌صورت دپاچا تصویر .

د ـ دسکی ترشا : زوس (یونانی رب‌النوع ) ولاړدی او په کین لاس کښی‌ئی اوزده لکړه نیولې ده .

١٩ ـ مسی گرده سکه: دغه‌سکه دسپینو زرو ددې پاسنیر سکی‌په‌شان‌ده ، خووزن ئی کم دی .

اپولو دوتس ( Apollodotos ) د (١٤٠ ـ ١٥٦ق‌م) په شاو خواکښی ـ له‌سپینوزرو اومسونه‌ئی‌سکه وهلې ده ، اوځان ئی‌د (سوتروس) یعنی دمنجی په‌لقب یادکړی دی . دده دسکی دضرب مضمون داسې‌دی : (اپولو دوتس منجی پاچا) .

٢٠ ـ دسپینو زرو گرده سکه :

الف ـ وزن‌ئی (٣١) گرینه .

ب ـ اندازه ئی (٠/٦) انچه .

ج ـ دسکی په‌مخ باندی فیل ولاړدی .

د ـ دسکی په‌شاته مخ باندی غویې ولاړدی . دغه پاچاد سپینو زرو ځلور کونجه سکه‌هم‌لری .

مناندر Menandre د (١٤٠ ـ ١٦٠ ق‌م) په‌شاؤ خواکښی ده له‌سپینو زرو اومسونه سکه وهلې‌ده ، اوځان‌ئی (مناندراس منجی‌پاچا) بللی‌دی . دغه‌پاچادسپینو زرو اومسو- ځلور کونجه اوگردې ، لویې اوړې په‌مختلفو نمونو ډېری سکی لری .

٢١ ـ دسپینو زرو گرده سکه :

الف ـ وزن‌ئی‌د (١٤٠) گرینو سره برابر .

ب ـ اندازه د(یوانچ) سره‌برابره‌ده .

ج ـ دسکی په‌مخ‌باندی دپاچا تصویر په‌نیم تنه‌ډول .

د ـ دسکی‌ترشا : دجنگ یونانی‌رب‌النوع پالاس(Pallas) ولاړدی . همدغه‌ډول دسپینو زرو کوچنیر گرده سکه هم لری چه‌وزن ئی(٣٤) نخوده اواندازه‌ئی (٠/٦٥) انچه ده .

٢٢ ـ مسی ځلور کونجه سکه :

الف : وزن‌ئی‌د (٢٤٠) گرینو سره برابر .

ب ـ اندازه ئی (٠/٩) انچه‌ده :

ج ـ دسکی په‌مخ باندی د پالاس نیم تنه تصویر .

د ـ دسکی ترشا : وزر لرونکی نیك (Nike) ولاړدی .

هرمایوس ( Hermaios) د(٤٥ ـ ٢٠ق‌م‌په‌شاوخواکښی) په‌سپینو زرو اومسو باندی ئی سکه ضرب کړې اوځان‌ئی ( هرمایوس منجی‌پاچا) بللی‌دی .

٢٣ ـ د سپینو گرده سکه :

الف ـ وزن د(١٤٥ ) گرینو سره‌برابر .

ب ـ اندازه د(یوانچ) سره برابر .

ج ـ دسکی په‌مخ باندی : په‌نیم تنه صورت دپاچاتصویر .

د ـ دسکی‌ترشا : (زوس) په یوتخت باندی ناست دی .

٢٤ ـ مسی گرده سکه : دسکی مخ اوشا د (٢٣) سکی په‌شان دی .

٢٥ ـ هرمایوس دخیلې ملکې (کالیوب) سره هم په سپینو زرو کښی سکه وهلې ده .

الف: وزن د(٣٧) گرینوسره‌برابر .

ب ـ اندازه (٠/٦٥) انچه .

ج ـ دسکی په مخ باندی دپاچا اوملکی تصویر .

د ـ دسکی ترشا: پاچا په‌آس باندی سپوردی .

داسکائی پادشاهانو او سلاطینو مسکو کات :

دغه سلسله‌وروسته تردې چه‌دباختر یونانیان مضمحل کوی دسیستان او اراکوزی (قندهار) دلارې دسند ناوې ته ښکته کېږی، اودپنجاب نه‌ئی دجنوبی او جنوب شرقی افغا نستان په ځینو برخو پاچا هی او سلطنت کړی دی . دخیلو مسکو کاتو په ضربولو کښی ئی دسکی په مخ باندی یونانی ژبه او دسکی ترشا پراکریتی ژبه او خروشتی رسم الخط استعمال کړی دی اوعمومانئی لخانونه د(پادشاهانو پادشاه) سترشهنشاه بللی‌دی . ددوی دپادشاهانو مسکو کات په دغه ډول دی :

موئس Maues ـ یا ـ موا Moa ـ د (٧٥ق‌م) په شاؤ خوا کښی، لخان ئی ستر شهنشاه (ماااوس) بللی دی .

٢٦ ـ دسپینو زرو گرده سکه :

الف : وزن د(١٣٨) گر ینو سره برابر .

ب : اندازه د(یو) انچ سره برابره ده ـ

ج : دسکی په‌مخ باندی‌یونانی‌رب‌النوعه (زوس) ولاړه‌ده-

د : دسکی ترشا : وزر لرونکی نیك (Mike) ولاړدی .

٢٧ ـ مسی گرده سکه :

الف ـ وزن د (١٣٠) گرینو سره برابر .

ب ـ اندازه د (یو) انچ سره برابره ده .

ج ـ د سکی په مخ باندې : دفیل سر .

د ـ دسکی ترشا په هغی باندی په حلقه کښی یو لـرگی لېدل کېږی .

دغه پاچا دمسو یوه بله ګرده سکه هم لری چه په مخ باندی ئی یونانی رب النوعه ارتمیس اودهغې ترشا دغـوا ئی شـکل لېدل کېږی .

۲۸ ـ مسی ځلور کونجه سکه :

الف ـ وزن د(۱٦۸) ګرینو سره برابر .

ب ـ اندازه د(۱/۸) انچ سره برابره ده .

ج ـ دسکی په مخ باندی : ددوو ستورو تر منځ رب النوع ولاړه دی .

د ـ دسکی ترشا : دفتح وزر لرونـکی رب النوع (نیك) ازس Azes ـ د(۵۸ق م) په شاؤخوا کښی .

۲۹ ـ دسپینو زرو ګرده سکه :

الف ـ وزن د(۱٤۲) ګرینو سره برابر .

ب ـ اندازه د(۱/۱) انچ سره برابره .

ج ـ دسکی په مخ باندی : پاچا په آس سپوردی او په کین لاس کښی ئی نیزه ده .

د ـ دسکی ترشا : یونانی رب النوعه ولاړه ده .

ازس په مسکوکاتو کښی خان دپادشاهانو پاچا ـ ستر پاچا بللی دی .

۳۰ ـ مسی ګرده سکه :

الف ـ دسکی په مخ باندی : پاچا پلتمې و هلې ناست دی اوتوره ئی پخپلو دواړو څنګونو باندی اینې ده .

ب ـ دسکی ترشا : هرمس (Heremes) یونانی رب النوعه قدم وهی .

ازس دنورو اسکائی پادشاهانو په نسبت ډېری لـږې او وړی سکی لری .

ازس او ازیلیزس : دازس دسکی په مخ باندی، په یونانی لیکنه د(ازس) نوم اودسکی ترشا پـه خرو شتی رسـم الـخط د (ازیلیزس) نوم لیکل شوی دی .

۳۱ ـ دسپینو زرو ګرده سکه :

الف ـ وزن (۱۵۱) ګرینه .

ب ـ اندازه : یو انچ .

ج ـ دسکی په باندی : پاچا په آس باندی سپوردی اوپه کین لاس کښی ئی نیزه دوهلو په حال کښی نیولې ده .

ستر شهنشاه ازس : دسکی ترشا : یوه رب النـوعه ولاړه ده اوپه ښی لاس کی ئی دنور شغله (ویرانګه) نیولی ده .

ستر پاچا ـ دپادشاهانو یاد شاه (ازیلیزاسا)

ازیلیزس د(٤۸ق م) په شاؤخوا کښی ـ

۳۲ ـ دسپینو زرو ګرده سکه :

الف ـ وزن (۱۵۰) ګرینه .

ب ـ اندازه : یوانچ .

ج ـ دسکی په مخ باندی ـ پاچا په آس بـاندی سپور دی دپادشاهانو پادشاه ازیلیزس دسکی ترشا: دیونانی رب النوعې (زوس) ولاړ تصویر دپاد شاهانو پاچا ( ائی لی زاسا)

۳۳ ـ دمسو ځلور کونجه سکه .

الف ـ وزن (۱۲۳) ګرینه .

ب ـ اندازه (۰/۸۵) انچه .

ج ـ دسکی په مخ باندی: پاچا په آس باندی سپوردی او په ښی لاس کښی ئی مترو که نیولی ده .

ستر شهنشاه ازیلیزس :

دسکی ترشا : یو نانی رب النو عه (هراکلس) بر ښنډه په تیږه باندی ناسته ده .

ستر پاچا (ائی لی زاسا) .

دسیستان اوقندهار دپهلوایانو مسکو کـات :

پهلوایان هغه پارتیان دی چه د دوهمې ق م پیړۍ په شاوخوا کښی ئی خپله خپلواکی دخراسان دپار تیانو نه واخسته ، اوپه سیستان اوقندهار اوداندوس (دسند دسیند) دحوزې په یوه برخه کښی ئی جلا سلطنت جوړ کړ . ددوی په زمانه کښی دکابل په شاوخوا کښی په ختیز پنجاب کښی وروستیو یونانی پادشاهانو داسکائیانو اولادې حکومت درلود . او ترهغی اندازی پوری چه اتکل کوی دکابل د څمکی دیونانیانو دسقوط علت دا ؤ چه دشمال دخوانه کوشا نیانو ـ او دغرب اوجنوب غرب له خوانه پهلوایانو ، او دختیزې خوانه اسکـائیانو په دوی باندی فشار او زور راوړ . د پهلوایانو مسکوکات دسرو او سپینو زرو او مسی دی ددوی دسکی په مخ باندی یونانی ژبه ، اودسکی ترشا پراکریتی او خروشتی رسم الخط استعمال شوی دی . یو نانی ارباب انواع لاله منځه ندی تللی. ددوی دپادشاهانو دمسکوکاتو تفصیل په دغه ډول دی :

ونونس Uonones د۱۰۵ق م په شاو خواکښی .

۳٤ـ دسپینو زرو ګرده سکه :

الف ـ اندازه د(۱۰/٦۵) انچو برابره ده .

ب ـ دسکی په مخ باندی : په اس باندی دپاچا تصویر .

بازیلوس بازیلون ملا اوس ونونوس ـ سترشهنشاه ونونس.

دسکی ترشا : یونانی رب النوعه (زوس) ولاړه ده .

مهاراجا براته درامی کاسا سپالاهورسا ،یعنی ستر شهنشاه. دیندار اسپاهورا . باید وویل شی چه په دغه سـکه کـښی دبراکریت په خواکښی د (سپالا هوراسا) نوم هم یادشوی او ښکاره کوی چه پاچا د خیل نائب السلطنه سره یوځای سکه وهلی ده . همدغه ډول ونونس د(اسپالا ګاداس) سره هم سکه ضرب کړې ده .

اسپالیر یزس Spalirisis دو نوس ورور او دهغه پهځای ناست د(۱۰۰-۹۰ ق م) په شاوخوا کښی .

۳۵- دمفرعو ځلور کونجه سکه :

الف- وزن (۲۲۷) گرینه .

ب - اندازه(۰/۸۵) انچه .

دسکی پهمخ باندی : پا چا دتګ پهحال کښی - بازیلون بازیلوس ملاوس اسپالیریزس یعنی سترشهنشاه اسپالیریزس .

ج- دسکی ترشا : یونانی رب النوعه(زوس)

مهاراجا ساما هانا ګسا اسپا لی ر یزسا ، ستر شهنشاه اسپالیر یزس .

ګندو فارنس (Gondpharnps) د۱۹نه تر۴۵ م پوری .

۳۶- دمسو گر ده سکه :

الف - وزن (۱۵۱) گرینه .

ب - اندا زه (۰/۹) انچه .

ج - دسکی په مخ باندی : په اس باندی دپاچا تصویر .

بازیلوس بازیلون ملاوس ګندو فارنس ، یعنی سترشاهنشاه ګندو فارنس .

دسکی ترشا : دزوس ولاړ تصو یر .

مهاراجا راجاتی را جا ترا ناراګندو فاراسا ، یعنی ستر پاچا دپادشا هانو پادشاه ګندوفارنس .

ددغی پاسنیز سکی پهمطابق دسپینو زرو او مسونه ګډه ګرده سکههم لر ی .

ابدا ګازس Abdagases - د ۶۰-۶۵ م پهشاوخوا کښی

۳۷- دمسو او سپینو زرو نه ګډه گرده سکه :

الف - اندازه (۰/۹۵) انچه .

دسکیپهمخ باندی : پا چا پهاس سپوردی .

بازیلوس بازیلون ابدا ګاسوس ،یعنی دپادشاهانو پاچا ابدا ګا زس .

دسکیترشا : یونانی رب النوعه (ژوبیتر) چهتاجئی پهلاس کښی نیولی دی .

ګندو فرا براتا پوترا سامها راجاترا تاراسا اوارا ګاسا، یعنی سترشهنشاه ابدا ګازس دګندو فارنس وراره .

اور تاګنس (Ortagnes) د۶۰-۷۰م پهشاو خواکښی .

۳۸- دمسو گر ده سکه :

الف - وزن د(۱۲۴) گرینوسره برابردی .

ب- اندازهئی د(۰/۹) ا نچو سره برابرهده .

ج - دسکی پهمخ باندی : په نیم تنهصورت دپاچا تصویر. پاسنیز لیکنهئی سولیدلیدی او نښه نهلوستل کیږی .

(د) دسکیترشا: وزر لرو نکی نیك Nike دده دسکی پهدې خواباندی دګندوفارنس اودده دورور ګو دا (Guada) نوم هم یادشوی دی .

پاکورس Pacores د (۷۰نه تر۷۵م) پوری .

۳۹- مسی گرده سکه :

الف : وزن د(۱۲۱) گرینو سره برابر

(ب) اندازه د(۰/۹) انچوسره برابره ده

ج دسکیپهمخ باندی :

دپاچانیم تنه تصویر .

بازیلوس بازیلون ملاوس پاکورس ، یعنی مستر شهنشاه پاکورس .

دسکی ترشا : د یونانی وزرلرونکی رب النوعی (نیکه) تصویر .

مهاراجا ساراجاتی را جاسا مهاتاسا پاکوراسا، یعنی ستر شهنشاه پاکورس .

ددغه پاچا مسکو کات زیاتره له قندهارنه پیدا کیږی .

## دکوشانی سلاطینو مسکو کات :

هرمایوس پاکجولا کډ فیزس :

۴۰ - دمسو گر ده سکه :

الف: وزن د(۱۱۵) گرینوسره برابر

ب اندازه د(۰/۹)انچو سرهبرابره ده

ج دسکی پهمخ باندی :

دهرمایوس نیمتنه تصویر منجی پاچا هرمایوسدسکیترشا (هراکلس) دزمری پوستکیئی په کین مټ باندی اچولی دی (کجولا کډ فیزس کوشانی رئیس) کجو لا کډ فیزس یالومړی کډفیزس د(۶۰ - ۴۵ق م) پهشا ؤخواکښی .

۴۱- مسی گرده سکه : دسکی پهمخ باندی : دهرمایوس نیمتنه تصویر (کوزلو کډ فیزس )دهرمایوس نوم پهیونانی خراب رسمالخط لیکل شوی دی .

دسکیترشا: د هرا کلس و لاړ تصویر(کجولو کازاسا کوشانی رئیس ) .

۴۲ - مسی کرده سکه :

الف: دسکی پهمخ باندی : یو سر بروت دی چه احتمالاً درومن دامپراطور (اګوست ) دسکی تقلید شویدی(دکوشان رئیس کوزولا کډفیزس) .

ب : دسکی ترشا : پاچا په کو چیز باندی ناست دی (پهخروشتی ژبهدغه مضمون لیکل شوی دی ) ویماکډ فیزس یادوهم کډفیزس : د(۷۰ -۶۰ق م ) پهشاؤخواکښی .

۴۳ - دسروزرو گر ده سکه :

الف : وزن د(۲۴۲) گرینوسره برابر دی .

ب : اندازه د(۱۸) انچوسره برابرهده .

ج دسکی پهمخباندی : پاچا په چوکیز باندی ناست دی (وموکډفیزس)

د- دسکی ترشا : شیوا او غویې ( ستر باچا دباد شاهانو پادشاه، ددنیابادار دویما کد فیزس مدافع )
کنیشکا -د(۱۱۰-۸۰ق م) په شا ؤخوا کښی .
٤٤ - دمسو گر ده سکه :
الف - وزن (۱۲۳) گرینو سره برابره .
ب - اندازه - : د (۰/۹) انچو سره برابره .
ج - دسکی په مخ باندی : په کو شانی لباس د باچا ولاړ تصویر ( باز یلو س بازیلون کا بیشکو س - یعنی دبادشاهانو پاچا کنیشکا ) .
د - دسکی ترشا : د لمر درب النوعې(هیلوك) ولاړصورت
٤٥- دسرو زرو گرده سکه :
الف - وزن د (۱۲۲ ) گرینو سره برابر .
ب - اندازه : د (۰/۸) انچو سره برابره .
ج - دسکی په مخ باندی : په کوشانی لباس د باچا ولاړ تصویر - د باچا په سر باندی دا و سینې پیك لرو نکی خولۍ - اولوړه چپن اوشلوارئی اغوستی دی ، په مخکښې ئی دقربانۍ کوچنی میز اینې دی او په کین لاس کښی ئی اوزده نیزه نیولې ده ( باچا او نا نوشا اوکانیشکی کو شانو ) یعنی ( دباد شاهانو پادشاه کنیشکا - کو شانی ) .
دسکی ترشا : دلمر درب النو ع ( میرو ) تصو یر ضرب شوی د ی .
٤٦- دمسو گر ده سکه :
الف - وزن د (۲۵۷ ) گرینو سره برابره .
ب - اندازه د (۱/۵ ) انچو سره برابره .
ج - دسکی په مخ با ندی د (٤٥) نمبر تفصیل په شان . شاه او کنیشکی - کنیشکا باچا .
د - دسکی ترشا : دلمر رب النو ع ( میرو ) .
هوویشکا : د(۱۸۳- ۱٦۲ ق م ) په شاؤ خواکښی .
٤٧ - د سرو زرو گرده سکه :
الف - وزن د (۱۲۱ ) گرینو سره برابره .
ب - اندازه ( ۰/۸ ) انچه ،
ج - دسکی په مخ باندی : د باچا نیم تنه تصویر - باچا داوسینی گرده خولۍ په سر کړې ده اوخامك دوزی شوی چپن ئی اغوستې ده - پی بنی لا س کښی ئی لرگی نیولی دی چه دباچائی نښه ده ..
( شاه او نانوشا او ، هو شکی ، کو شانو ) یعنی د ( پادشاهانو پا دشاه هو ویشکاه کوشانی ) .
د - د سکی تر شا : دلمر رب النوع ( میرو ) .
٤٨ - دمسو گر ده سکه :
الف - وزن ( ۲٤٥ ) گر ینه :
ب - اندازه یو ا نچ .

ج -دسکی په مخ باندی : باچا په فیل باندی سپوردی(شاو، نانو شا اوهوشکه، کوشانی) یعنی د(پادشاهانو پادشاه هو ویشکا کوشانی) .
د- دسکی ترشا : دلمرب النوع (میرو) .
واسودوا : د۲۲۰-۱۸۲ق م په شاؤخواکښی .
٤۹- دسروزرو گرده سکه: الف : وزن ئی (۱۲۱) گرینه
ب اندازه (۰/۸۵)انچ
ج- دسکی په مخ باندی : باچاولاړدی ، اوداوسینې مخروطی خولۍ ئی په سر کړې ده ، اودزغرې په پول لباس ئی اغوستی دی او په بنی لاس په کوچنی میز باندی بوشی زدی، په کین لاس کښی ئی بوه اوزده لـکړه ده (شاو ،نانو، شا او بازو دو کوشانو) یعنی د(پادشاهانو پادشاه واسودوا کوشانی) .
د- دسکی ترشا: شیوا مخامخ ولاړ ه ده اوشاته ئی غویې نیکاره کـړې .
٥٠- مسی گرده سکه : الف :
وزن(۱٥٤) گرینه .
ب اندازه (۰/۹) انچه .
ج- دسکی په مخ باندی : د(٤٤) نمبر په شان یونانی ایکنه ئی بیخی خرابه شوې ده .
د- دسکی ترشا: د(٤۳) نمبر سکی په شان ده .
دهیاطله پادشاهانو مسکو کـات :

---

دهفتالیت هون بان دپنځمی میلادی پیړۍ په لومړیو وختو کښی پیداشول او کوشانیان ئی موقتا مضمحل کړل اوتقریبا نیمه پیړۍ ئی په افغانستان اوپنجاب کښی پاچائی کړې ده،ددوی دپادشاهانو مسکو کـات په دغه لاندی پول دی :
تورامانا (Toramana) د٥۰۰م په شاؤخواکښی .
٥۱- مسی گر ده سکه :
الف: وزن ئی (٤۷.۳) گرینه
ب اندازه (۰/۸)انچه
ج -دسکی په مخ بـاندی : په نیم تنه صورت او په پوه (نیم رخ) دباچا تصویر .
د- دسکی ترشا: په منځ کښی یوافقی خط ایستل شوی دی اودهغه دپاسه دلمر ټیکلی (قرص) اودهغه نه بښکته د(تورا) کـلمه په خروشتی رسم الخط ایکل شوې ده .
مهی راکولا یا مهـر گـل دتورامانا زوی : د (٤۱۰-٥٤۰م) په شاؤخواکښی :
٥۲- مسی گرده سکه :
الف : وزن(٥٦/۳) گرینه
ب اندازه (۰/۷)
ج- دسکی په مخ باندی : په ساسانی قیافه دباچا نیم تنه تصویر

په‌خروشتی رسم‌الخط داسې لیکنه لـری: شری، میهی ، اگولا یا(گولا)

د ـ دسکی ترشا: دسکی په منځ کښی افقی خـط ،دهغه دپاسه دغوائی تصویر، دسپینو زرودځینوسکو په‌مخ باندی پاچاد کوشان په‌ډول‌ولاړ ښودل شوی‌دی، اودغه لیکنه لری: (شاهی، مو،هی راگولا) په کینه‌خواباندی د کوشانی‌مسکوکانو په‌شان رب‌النوع په‌تخت باندی ناست دی .

دهیاطله‌وو مسکوکات په‌افغانستان اوهند کـښی ډیـر پیدا کیږی ، مگر له‌بده مرغه یوزیات شمیر ئی ښه نه معلومیږی .

## دنیـکیانو یادکوچنیو کوشانیانومسکو کـات :

هر کـله‌چه دهفتا لیت دهون‌یانو دحملو اوچپاوونو په وخت کښی کوشانیان مضمحل شوی اودخیل وروستی ځای دکـابـل دعلاقی‌څخه غرونوته وختل ، دهونیانو دسقوط نـه نیمه پیړی‌ـ وروسته بیرته‌دکابل ناوې‌ته راښکته شول اوپاچائی‌ته ورسـیـدل که‌څه‌هم‌دوی نومونه واضحه نه‌معلومیږی خوسلسله‌ئی‌د(کوچنیو کوشانیانو) په‌نامه یادیږی ،اودوی‌ته معمو لا (نیـکیان) هم ویل‌کیږی ، اوددوی عصر او زمانه دپخـمی پیړی‌ـ له نیمائی نه‌وروسته دشپږمی پیړی‌ـ تر آخره پوری بلل کـیږی .ددوی مسکوکات عموما دسپینو زرو اومسی اوشکل ئی لوی اونازك دی ،دغه‌مسکوکات دشکـل اواندازې له‌مخی ساسانی سـکوته اودقیافی اودپاچا دلباس په لحاظ هندی‌ته نزدې‌دی ددوی‌دیوې سکی‌بیان دنمونې په‌ډول په‌دغه صورت‌دی :

۵۳ ـ دسپینوزرو گرده‌سکه :

الف : وزن (۵۲/۸) گرینه .

ب اندازه (۱/۳) انچ .

ج ـ دسکی‌په‌مـخ‌بـاندی : په‌نیـم‌تنه صورت دپاچاتصویر دپاچا قیافه زیانره هندی‌ته ورته ده . په‌غوږ کښی ئی گوشواره ده، اوپه‌خولې‌ـ کښی ئی مخامخ دتندې دپاسه نوې میاشت لېدله کـیږی. پاچاته مخامخ (نیـکی ملك) اوشاته ئی دشاه کـلمه لیـکل‌شوې‌ده .

د ـ دسکی ترشا : دمجمر په منځ کښی دوه ستنی لېـدل کـیـږی او ددغو ستنو دوارو خواؤ تـه دوه تنـه ولاړ دی اودهغـوی دسر دپاسـه عـراده رسم شوې‌ده . لیـکـنه ئـی نه‌لوستل کیږی . دغه‌سکه‌دهندد کلکتی‌په‌موزیم کښی‌موجوده‌ده.

## دهـدو کابلشاهانو مسکو کـات :

هرکله چه‌کابل دسیمی وروستنې‌ـ کوشانی اولاده کرار ، کرار ضعیفه شوې اوله منځه لا ړه ، او ددوی ځای دهندوانو طبقې ونیواوپاچاهی‌ته ور سېدل ، انگلیسی‌مورخ(ونسنت‌سمیت) دهند دکلکتی دموز یم دمسکوکاتو د کتلاك په‌لومړی جلد کښی د(البیرونی) له خولی نه د قضیې صورت داسې لیکی :

دکابل د وروستنی کوشانی پاچا ځای چه (لاگاتور مان) نومېده ،برهمنی وزیرئی (کالار) ونیو او(هندوشاهی)سلسله‌ئی منځ‌ته‌راوړه . دغه‌ټولگی‌له ۸۷۵ نه‌تر ۱۰۰۰م) داسلام دفاتحینو دراتگ ترزمانې پوری او دهغه نه‌وروسته دکابل په‌سیمه کښی سلطنت کړی‌دی .

ددوی دخوتنو پادشاهانو مسکو کات لکه چه‌دهند دکلکتی دموزیم دمسکو کاتر دکتلاك په‌دوهم ټوك کښی بیان شوی‌دی په دغه ډول دی :

اسپالاپاتی دوا (Spalapati-deva) دنهمې مسیحی پیړی‌ـ په‌وروستیو وختو کښی ـدغوبې اوسوارکار له‌رقم‌څخه .

۵۴ـ د سپینو زرو گرده سکه :

الف ـ وزن(۵۴) گرینه .

ب ـ اندازه (۰/۱۸ ) انچه .

ج ـ دسکی په مخ باندی : غوبې دتگ په حال کښی، کښی خواته‌دهغه‌دپاسه په‌هندی ژبه‌اورسم‌الخط Sri Spalapaei deva لیکل شوی دی .

د ـ دسکی ترشا : پاچاپه‌اس‌باندی سپوردی ،اوپه‌ښی‌لاس کښی‌ئی نیزه نیولی‌ده ، دده په‌مخکښی د(گرا) کـلمه په‌هندی ژبه لیکل شوی‌ده .

سا ما نتا د وا Samanta deva د لسمی مسیحی پیړی‌ـ په اوائلو کښی .

## دغویی اوسوار کـار له رقمه :

۵۵ـ د سپینو زر و گـرده سکه :

الف ـ وزن (۵۱/۲) گرینه .

ب ـ انداز(۰/۸ ) انچه .

ج ـ دسکی په‌مخ باندی : د(۵۵) نمبرسکی په‌شان .

د ـ دسکی‌ترشا : د( ۵۵) نمبرسکی په‌شان‌مگر دپاچا سر ترشا د(بهی‌و ) کـلمه لیکل شوې ده .

ددغه پاچامسی سکی دده دسپینو زرو دسکو په شان‌دی .

## دفیل اوزمری‌رقم :

۵۶ـ دسپینو زرو گر ده سکه :

الف ـ وزن (۳۰/۷) نغو ده .

ب ـ اندازه (۰/۷۸ ) انچه .

ج ـ دسکی په مخ باندی : یوفیل ولاړ دی او ښکنه دغه عبارت لیکل شوی دی Sri Samanta deva .

د ـ دسکی ترشا :زمری خپله لکـې‌ـ ډانگه(فرقره) کړی‌ده وا کادوا Vakk deva لسمه مسیحی پیړی‌ـ .

۵۷ ـ دسپینو زرو گردەسکه :

د فیل او زمری رقم :

الف ـ وزن د (۳۱/٦) نخو دو سره برابر .
ب ـ اندازه د(۰/۷۵)انچوسره برابره ده .
ج ـ د سکې په مخ باندی : فیل او د غه عبارت لیکل شوی دی Sri Vakk deva
د ـ دسکی ترشا : دزمری تصویر نقش شوی‌دی .
چودا وا یاکا : Chudava yaka لسمه مسیحی پیړۍ .

غویی اوسوار کار رقم :

۵۸ ـ دسپینو زرو گرده سکه :
الف ـ وزن (۴۹/۷) نخو ده .
ب ـ اندازه (۰/۴۷) انچه
ج ـ دسکی په مخ باندی : Seri Chudavayaka غوبې
د ـ دسکی ترشا : سوار کار .
ستا پالا Asta pala د۱۰۰۰ م په شاو خوا کښی اودهغه نه وروسته .
۵۹ـ دسپینو زرو گرده سکه :
الف ـ وزن (۴۷) گرینه .
ب ـ اندازه (۰/٦) انچه .
ج ـ دسکی په مخ باندی : Asta pala غوبې .
د ـ دسکی ترشا ـ سوار کار .

داسلام په زمانه کښی افغانستان :

سامانیان : د نصر بن احمد د سپینو زرو دری سکی چه پهلاس راغلی دی او د بنجاب په موزه کښی ساتل شوی دی د غه شرحه لری :

پهښی مخ باندی ئی: لااله‌الاالله وحده لاشریك له (دحاشیې اوغاړې لیکنه نه لوستل کیږی دپیسی‌غاړه لږه ماته‌ده ).

په کینه خوا باندی : الله ، محمد رسول‌الله ، المقتدر بالله نصربن‌احمد ـد(حاشیې لیکنه پهځینی‌ځای کی‌نه‌لوستل کیږی.)

منصور بن‌نوح : پهمخ باندی‌ـ دسکی پهداخلی دائره کښی ( لا اله الا الله و حده لا شر یك له ) د د ا خلـی حـا شیې په د ا ئره کـښې ( بسم ا لله ضر ب هذ ا الد ر هم بسمر قند سنه‌ثلث وخمسین وثلث مائة (۳۵۳ ) لیکل شوی دی . خارجی دائره‌ئی نه‌لوستل کیږی .

دسکی‌شاته : دننه‌پهدائره کښی(الله‌ـمحمدرسول‌الله ـالمطیع لله منصوربن‌نوح) لیکل‌شوی‌دی . حاشیه‌بیخی دلوستلو وړنه ده یعنی‌نه لوستل کیږی .

دوهم نصربن‌احمد :مسی یابرنجی مسکوك دوه‌دانی .

په‌یوه‌خوا باندی‌ئی دښکلیتوب په ډول نقش شوی دی (لااله‌الاالله وحده لاشریك‌له بسم الله ضرب هذاالفلس ببخارا سنةخمس وثلث ماته (۳۰۵ ) .

په‌بل‌مخ باندی : ( الله‌محمد رسول‌الله نصر مما امر به‌الامیر نصربن‌احمد اعزه‌الله ) .

نوح‌ابن‌نصر: په‌یوه‌خواباندی:( لااله الاالله وحده لاشریك‌له بسم‌الله‌ضرب هذاالفلس ) .

یه‌بله‌خواباندی‌ئی : دننه په‌نقطه لرونکی دائره کښی (عبدالملك‌مماامربه الامیرالسید نوح بن‌منصور اعزه الله)

منصور بن‌نوح : اته‌توتی مسی‌مسکوك په لاس راغلی دی په‌یوه‌خوا باندی دښکلیتوب په ډول دغه کلمات نقش شوی‌دی (لااله‌الاالله وحده‌لاشریك له بسم‌الله ضرب هـذاالفلس ببخارا سنة ثلث وخمسین وثلثمائة (۳۵۳ ) له‌دغو مسکوکاتونه‌یوپه فرغانه کښی په۳۵۸کال ضرب شوی اونور په بخارا کښی ضرب شوی‌دی ، اوښیلو لیکنو کښی له دغه مسکوك سره لږ تفاوت اوتو پیرلری .

نوح‌بن‌منصور: په یوطرف باندی‌دنږدین په‌ډول په‌دننه‌نقطه لرونکی دائره کښی دغه لیکل شوی دی : (لااله الاالله وحده‌لاشریك‌له) اوپه حاشیه کښی : (بسم‌الله ضرب هذا الفلس ببخاراسنة اربع وسبعین وثلث مائة ۳۷٤) .

په‌بل‌طرف باندی‌ئی : په‌دننه نقطه لرونکی دائره کښی: (الله‌محمدرسول‌الله‌ـنوح بن‌منصور) په حاشیه کښی : (مما امربه الامیرالسیدالملك‌المنصور ایده الله ) .

دغه‌ډول دوه نور مسکوك دپنجاب په موزه کښی شته چه‌له دغونه لږ فرق لری .

غزنویان : ( دسپینو زرو سکوك ) .

سبکتگین : په یو مـخ باندی ، دننه په دائـره کـښی (لااله الاالله وحـده لاشر یـك لـه ـالطائـع‌لله ـ۹) حاشیه‌ئی نه‌لوسته کیږی .

په‌بل‌مخ باندی:(الله‌محمدرسول‌الله‌ـنوح‌بن‌منصورسبکتگین۹) حاشیه‌ئی نه‌لوسته کیږی .

لس‌نورمسکوك‌چه‌لهدل‌شوی دی ځینی په‌عبارتونواونقشونو کښی له‌پاسنی مسکوك نه اختلاف اوفرق لری .

محمود: اول‌دسپینو زرو مسکوك : دسپینوزروهغه علویښت دانی‌مسکوك چه لهدشوی‌دی په کلماتو اونقشونو کښی دځینو سره اختلاف په د غه ډول دی :

ښیخواته: دسکی‌په‌مخ‌باندی دکلماتو دترتیب په مراعات (لااله‌الاالله وحده لاشریك‌له یمینی بسم الله ضرب هذا الدرهم

بسجستان سنة سبع وتسعين وثلثمائة ٣٩٧) په بل طرف باندی دسکی په مخ باندی دکلماتو دترتیب په رعایت ( الله محمد رسول الله القادر بالله یمین الدولة وامین الملة ابوالقاسم محمد رسول الله ارسله بالهدی) په بل مسکوك کښی بنی خوا ته : (لا اله الا الله وحده لاشریك له الطائع لله) اوبه بل طرف باندی دسکی دخطونو دترتیب په مراعات د (الله- محمد رسول الله- منصور بن نوح سیف الدوله - محمود . ) عبارت لوستل کیږی .

په نورو مسکوکاتو کښی دتورو دترتیب په اختلاف دمحمود دالقابو په ذکر باندی ( یمین الدوله - سیف الدوله - امین الملة) اضافه نوربیانات لیدل کیږی .

(٢) مسین مسکوکات : دسلطان محمود دوخت درې توتې لیدل شویدی . یوله دې مسکو کانو نه بنه لوستل کیږی . دهغې په یومخ باندې دننه د«محمود امین الملة» کلمات او هلورمه خواؤته ئې د«القادر بالله » او«لااله الاالله وحده لاشریك له» الفاظ لیکل شویدی .

دسکې په بل مخ باندې دیوې ټکی لرونکې دائرې په دننه کې داجمله لیدل کیږی : «محمد رسول الله یمین الدوله ابوالقاسم» .

دمحمود ورور نصر : دسپینو زرو دسکو په بنی خوا باندې دیوې ټکی لرونکې دائرې په دننه کې دسکې دخطونو په ترتیب اورعایت د«یمینی لااله الا الله وحده لاشریك له نصر »عبارت او په حاشیه باندې د سجستان لفظ لوستل کیږی .

په چې مخ باندی دسکی دکر شو دترتیب په رعایت دالله محمد رسول الله ، القادر بالله ، یمین الدوله، امین الملة ابوالقاسم کلمات لیکل شوی مگر حاشیه ئې نه لوستل کیږی .

محمود اوطاهر : دسکی مخ چه ٣٨١ هجری کال کې چه په سجستان کې وهل شوبده داسې لوستل کیږی :(لااله الاالله وحده طاهر بن ولی الدولة ابن احمد بسم الله ضرب هذا الدرهم بسجستان سنة احدی و ثمانین وثلث مائة ) .

دسکې شاته داعبارت دی : ( الله محمد رسول الله القادر بالله یمین الدولة محمود ،محمد رسول الله ارسله بالهدی ) .

ولی الدولة ( دطاهر پلار ) :دسکې مخ (لااله الاالله وحده ولی الدولة ) حاشیه ئې دنورو پورتنیو سکو غوندې ده مگر کال ئې (تسعین وثللمائة ٣٩٠) معلومیږی ، ممکنه ده چه سبعین یعنی ٧٠وی.دسکې شا : (الله محمد رسول الله القادر بالله، القادر) اوستل کیږی . حاشیه لکه دپورتنیو سکو غوندې ده .

مسعود : دده دیارلس دسپینو زرو سکی لیدل شویدی چه د اکثرو حاشیې نه لوستل کیږی په یومخ عموماد (لااله الاالله وحده لاوریك له ) جمله او په بل مخ د(الله محمد رسول الله علیه السلام مسعود) الفاظ لوستل کیږی . دده په ځینې نورو سکو کې د ( محمد رسول الله. القائم بامرالله ، ناصردین الله ، مسعود) عبارت لیدی شی او په یوه بله سکه کې «محمد رسول الله، کیقباد، خلیفة الله مسعود » لیدل کیږی .

مودود :دده اوه دسپینوزرو او دوه دمسو سکې لیدل شوې چه په ټولو کې دمیاشتې نوم هم شته .

دسکې مخ : په عام طور داسې لوستل کیږی : (محرم عدل لااله الاالله وحده لاشریك له ، القائم بامرالله ) .

دسکې شا :(ابوالفتح، محمد رسول الله، شهاب الدوله وفخر الامة مودود ) .

دده مسینې پیسی هم لکه دپورتنیو مسکو کاتو غوندې دی. شیږ دانې ګډې فلزی پیسی هم دمودود لیدل شویدی چه لکه دده دسپینو زرو دسکو په شان دی ، مگر ددې سکونه په یوه کې دسکې د وهلو ځای داسی هم ذکر شو یدی ؛ ( ابوالفتح شهاب الدولة وقطب الملة مؤدود ، ضرب هذا الدرهم فی سنة ثلث یاخمس وثلثین وأر بعمائة )

عبدالرشید : دده یولس دانې ګډې فلزی سکې لیدل شویدی چه دډیر لږ اختلاف سره چه په عباراتو او اشکالو کې ئې موجود دی داسې و هلی شویدی : ( عزالدو لة و زین ا لملة ابوونصورالرشید ) .

فرخزاد : دسپینو زرو سکې :

په مخ : ( ظفر لااله الاالله وحده لاشریك له ، القائم بامرالله ) په بل مخ : ( محمد رسول الله جمال الدو لة، کمال الملة فرخ زاد )

ابراهیم : دده دیار لس دانې د سپینو زر و سکې لیدل شویدی .

په یومخ ئې ( لااله الاالله وحده لاشر یکه له ا لقائم بامرالله ملك الا سلام نصیری ) او په بل مخ ئې ( الله ، ملك الله ، محمد رسول الله ، سلطان الاعظم ، قاهر الملوك، سید السلاطین، ابراهیم ) لیکلی دی .

دده دګډو سکو هلور دانې لیدل شو یدی چه د سپینو زرو دسکونه ئې لږ تفاوت لری او په یوه کې ئې د سکې دوهلو ځای ( لاهور ) هم قید شویدی .

دریم مسعود : دده یوولس دانې ګډې فلزی سکی لیدل شویدی چه په مخ اوشا ئې په لا ندې ډول لیکل شویدی :

په یومخ : (عدل لااله الاالله محمد الرسول الله المستظهر بالله قاهری ) .

دائرة المعارف ٥٠٠ جلد

په شا: (ملك السلطان العادل مولی السلاطین نظام الدین مسعود) په نورو سکو کښې هم ذکر شوی عبارت دلږ اختلاف سره لیدل کیږي.

ملك ارسلان: دده یوه کډه سکه لیدل شوی چه داجمله په کې لوستل کیږی (بهاء السلطان الاعظم ملك ارسلان).

بهرام شاه: دده نه دسپینوزرو سکې لیدل شویدی چه دا عبارت ئی په مخ لوستی شی (الله لااله الاالله المستر شد بالله عضدالدوله سنجر) او په شائې (السلطان محمد رسول الله، السلطان الاعظم یمین الدوله بهرام شاه) لیکلی دی. دده پنځه ګډې سکې چه لیدل شویدی داعبارت ورباندې دی (عدل السلطان الاعظم بهرام شاه)

خسروشاه: دده یوه ګډه سکه لیدل شوې چه په هغې باندې دیوې تکی والا دائرې په مخ کې داسې لیکل شوی: (السلطان الاعظم معزالدولة خسروشاه)

خسرو ملك: دده اته ګډې فلزی سکې لیدل شویدی چه په یوه کې ئې داسې لیکلی:

(السلطان الاعظم سراج الدولة) دخسرو ملك ددورې نه وروسته هم ځینې سکې لیدل شوی چه د کابل دبرهمن پاچهانو نه د یوتن «سامانتا د یوا Samanta-Deva» دپیسو په تقلید دغزنویانو په دوره کې جوړې شویدی. په دې سکو کانو کې د یواس دسر دهېرې دپاڅه د غزنوی پاچهانو نوم لیدل کیږی، ممکنه ده چه دا پیسی دلومړی مسعود او دهغه دورور محمد د حکمرانی په دوره کې په پنجاب کې جوړې شوې دی. ځینې نورې پیسې هم لیدل شویدی چه په هغوی باندې دمودود نوم ښکلی دی.

تیموریان: تیموریانو پاسرو زرو، سپینو زرو اومسو باندې سکې وهلی دی. دلته مونږ ددغې کورنۍ دستر غړو دسکو نه یوه یوه نمونه یادوو:

دتیموردسپینوسکه: دسکې مخ: (سیور ببرلغی امیر غتمش تیمور کورا کمتو) دسکې په شا کلمه مبارکه لیکلی ده.

دشاه رخ هغه دسپینوسکه چه په هرات کې ئې وهلې ده: دسکې مخ: (ضرب السلطان الاعظم شاه رخ بهادر خلدالله ملك وسلطانه هرات (۸۲۸) دسکې شا: دیرمربع په مننځ کې کلمه مبارکه او په څلورو کنجونو کې دخلفای راشدینو نومونه لیکل شویدی.

دسلطان حسین میرزا هغه دسپینوسکه چه په هرات کې وهل شوې ده:

دسکې مخ: (السلطان الاعظم الغازی حسین بهادر سلطان خلدالله تعالی ملکه).

دسکې شا: ددرې پانو په مننځ کې مبارکه کلمه او په حاشیو کې دخلورو واړو یارانو نومونه.

هوتکیان: دهوتکیانو دوره چه د مملکت په تاریخ کې ورته دنهضت عصر ویلی شود ملی مشر میرویس خان نه شروع او په ایران کې دمحمود او اشرف دفتوحاتو نه وروسته داشرف دوژلو په بیه تمامیږی. میرویس خان پخپله دیوملی مشر په حیث حکومت کړی نوځکه ئې کوم سکه هم نه ده وهلی. دلوړ درشل محمود او اشرف سکې دادی:

محمود: (۱۱۳۵ - ۱۱۳۷ ه) دسپینو سکه: دسکې په مخ دیو مربع په مننځ کې (لااله الاالله محمد رسول الله) او په حاشیه کې (ابوبکر، عمر، عثمان، علی) لیکل شویدی. دسکې په شا دابیت ؤ:

سکه زد از مشرق ایران چوقرص آفتاب
شاه محمود جهانگیر سیادت انتساب

دایو ځولاندینی بیتونه هم دده سکوته منسوب شویدی:

برو رود بزمین ماه آفتاب منیر
زرشك سکه محمود عالمگیر
دین حق راسکه برزر کرداز حکم الله
عاقبت محمود باشد پادشاه دین پناه

اشرف: دسروسکه چه په اصفهان کې وهل شوی: دسکې په مخ: (لااله الاالله محمد رسول الله «محمد») د سکې په شا:

به اشرفی اثر نام انجناب رسید شرف زسکهٔ اشرف به آفتاب رسید

دسپینو سکه: دسکی په مخ دابیت دی:

دست زد بر جلالت اشرف شاه بود تعبیر سکه داد کنگاه

دسکی په شا: (جلوس میمنت مانوس در اصفهان ۱۱۳۷)

دسپینو دسکې یو بل قسم: دسکې په مخ: (لااله الاالله محمد رسول الله) دسکې په شا،

زالطاف شاه اشرف حق شعار بزر نقش شد سکهٔ چاریار

ضرب اصفهان څرنګه چه د تاریخ اوواقعاتو له مخې آزادخان هم په دی عصر واقع شویدی نوځکه دده دسکې شرح هم دلته راوړو:

آزادخان: (۱۱۶۶ - ۱۱۶۹ه)

دسپینوسکه دتبریزضرب:

دسکې په مخ، (لااله الاالله محمد رسول الله) دسکی په شا:

تا که آزاد در جهان باشد سکهٔ صاحب الزمان باشد

ددرانیو پاچهانو ضراب خانې: دیوې سلسلې جنګونو او فتوحاتو په اثر کې ددرانو دامپراطوری قلمرو مخصوصا دهند خواته ډېره پراختیا موندلی وه اولمې ئې دمشهدنه د ګنګادسیند دلمر ختیزې غاړې پورې اودامو درودنه دسند ددلتا پورې اوزده وه، په دې لحاظ ددې کورنۍ پاچهانو دخپلې امپراطوری په ټولو نیول شوؤ ځایونو کې سکه وهلی ده. دد وی مسکوکات

ه‌اسې ښيي چه دوی تقريبا دافغانستان ، خراسان او هند په ټولو لويو ښارونو کې ضرابخانې لرلې د دوی د ضرابخانو شمېر ۲۷ ته رسيدلی دی .

**دافغانستان خاوره :** درانيو داوسنی افغانستان دخاورې په‌علاقه کې په‌هرات، بلخ، قندهار او کابل کې په‌دې‌لاندی تفصيل سکه وهلې‌ده :

په‌هرات کې : احمدشاه‌بابا، تيمورشاه، شاه‌زمان، شاه‌محمود او کامران .

په‌قندهار کې : احمد شاه بابا، سليمان ، تيمور، همايون، زمان، محمود (اول‌ځل)، قيصر، شاه‌شجاع (دويم‌ځل) ، محمود، (دويم‌ځل)، ايوب، شاه‌شجاع (دريم‌ځل) اوفتح جنگ .

په بلخ کی : تيمور شاه .

په‌کابل کې : احمدشاه بابا ، سليمان، تيمور، زمان، محمود ايوب، شاه‌شجاع (دريم‌ځل) اوفتح جنگ .

هغه ښارونه په‌کومو کې به چه سکه وهل کېده عام له‌دې چه دافغانستان په‌داخل اويادامپراطورۍ په نورو علاقو کې وُ هغه به‌په مميزه صفاتو يادېدل . لکه بلخ چه د ( ام‌البلاد) ، قندهار چه‌د(اشرف‌البلاد) اوهرات چه‌د(جايگاه راحت سلطنت) په نامه يادېدل .

**په‌ايران کې :** درانيانو په‌اوسنۍ ايران کې‌هم‌په‌يودوه ځايو کې سکه وهلې ده . اعليحضرت احمد شاه بابا په ۱۱٦۲ - ۱۱٦٤ه (۱۷٤۸ - ۱۷٥۰ع) کلونو کې خراسان فتح کړ او دهغه زوی اعليحضرت تيمورشاه په مشهد کې زېږېدلی دی . اعليحضرت احمدشاه بابا اوتيمور شاه دواړو په‌مشهد کې سکه وهلې اوعلاوه پردې تيمورشاه په(خوی) کې هم‌سکه وهلې‌ده. داوروستۍ علاقه دايران په‌غرب کې په‌داسې يوځای کې ښودل شوې چه دتيمورشاه دنفوذ له‌دائرې نه‌خورا ليرې وُ .

**په هند کې :** په‌دې وجه چه ددرانيانو دفتو حاتو مخه ډېره دهندخوا ته‌ده‌شلو (۲۰) نه زياتې‌ضرابخانې‌ې هلته لرلې‌اودهغه په شلو (۲۰) بېلو بېلو ښارو نو کې ې سکه وهلې ده . په هند کې ددرانو ضرابخانې ديښور، ديره جانو ، بهکهردير، سند حيدر آباد، سند اوتا ته نه چه د سند په‌لمن کې پراته‌دی نيولې‌ان‌ترانواله، بارلی، فرخ‌اباد، مرادآباد، نجيب‌اباده‌پورې دجمنا اوګنګ نه‌په اخواته سيمو کې ښورې شوی‌وی . دی‌وروستنی ښار دهغوخلکو پورې‌تعلق درلود چه داعليحضرت احمدشاه بابا سره دپانی‌پت په‌جګړه کې ملګری وُو . دومره هم بايد وويلی شی چه دهندځينی ښارونه چه ضرابخانې پکې‌وی هم يه ځينو مميزه صفاتو يا دېدل. لکه سرهند د(جايگاه راحت سلطنت) ، د (جايگاه کشمېرراحت سلطنت) بهاولپور د(خانه مسرت) په نومونواوهمداسې‌نورې‌دی‌لحاظ چه‌ددرانيوضرابخانې په عند کې ډېرې‌دی اودهغوی دځای‌اودخصوصياتو‌پېژندل دهرپښتون دپاره ضروری‌دی نوځکه دلته‌دهرې ضرابخانې‌دځای او دجغرافيائې او تاريخی خصوصياتو لنډه يادوُنه کوو .

**اټک :** داباسيند دنمرختيزې‌غاړې په‌سر بومشهور او مضبوط ځای‌دی . داټک کلا دهمدامپراطور اکبرجوړه کړې او همدغلته ئې دمسسيسی جوړې کړی‌دی ، اعليحضرت‌احمدشاه بابا درانی په ۱۱٦٥هجری کې دپنجاب‌شمال غرب په‌افغانستان پورې‌وتاړه نومورې اعليحضرت‌اوتيمورشاه‌دواړو دسرو او سپينو زروسکې په‌اټک کې وهلې دی .

**احمد پور :** احمدپور :بهاولپور دايالت پخوانی مرکز دی دلته دمحمودشاه په‌نامه سکه وهل‌شوې مګرسکه ئې ښه نه ده اوداسې تصور کېږی لکه چه دمحمود دمرګ نه وروسته دهغه په‌نامه وهل شوې وی .

**انواله :** په (روهېل کنډ) کې پوښاردی . نجيب‌الدوله چه دپانی پت په جنګ کې داعليحضرت احمدشاه بابا له‌ملګروځخه وُ په‌انواله کې ئې داحمدشاه بابا په‌نامه سکه وهلې چه کال‌ئې (۱۱۷۳ او ۱۱۷٤) دی . دپانی‌پت په جنګ کې داعليحضرت احمدشاه بابا بری، دمرهټيانو هندوانو ماتې، دډيلې نيول‌اوپه ۱۱۷۳ه (۱۷٦۰م) کې دمغلی شاه‌عالم مغلوبيت ددرانو لښکرې دجمنا اوګنګا درودونونه اخواته ور سولی او داعليحضرت احمدشاه بابا دپاره ئې ډېر ملګری وګټل . وروسته همدې ملګرو دپوځه زمانې دپاره په انواله ، بريل، مرادآباد اوفرخ آباد کې داعليحضرت احمدشاه‌بابا په‌نامه سکه وهلی ده .

**بريلی :**د(روهېل کنډ) ستر ښاردی. نجيب‌الدولهٔ‌داحمدشاه بابا ملګری د۱۱۷۳ او۱۱۷٤ کلونو په‌منځ کې هلته دنو موږی ټولواك په نامه سکه وهلې ده .

**بهاولپور :** يوله هغو مهمو تجارتی پراووونو څخه دی چه دکابل اوډيلی په منځ کې د کاروانونو په لاره پروت وُ. هغه دتجارت مالونه چه دکابل نه‌به ډيلی ته لېګل کېدل دملتان اوبهاولپور (صورت گر) دلارې نه به ښه تېرېدل او که کاروانونو به‌دسندقصد کړی وُ دبهاولپور نه به کاږه‌شول .

په ۱۲۰۳ ه (۱۷۸۸م) کې اعليحضرت تيمور شاه پخپله دبهاولپور نواب مات کړ اوبرخپره پردې چه‌دهغه نه‌ئې د جنګ تاوان‌واخيست هرکال‌ئې‌هغه کابل‌ته په‌خراج‌ور کولو مجبور کړ . شاه محمود په‌خپل دواړه ځلی دسلطنت دوره کې اوشاه شجاع دخپلې‌باچهی په‌دويمه‌دوره کې په‌بهاولپور کې دسپينو اوسرو سکه وهلې اوهغه‌ئې (دارالسرور) بللی وه .

بهکهر : دبهکهر مضبوط جزیره د (سکهر) اود (رهری) په منځ کې پرته ده اوداندوس له ډېرو ښایسته ځایونو څخه دی چه په ښوانو وختونو کې دسند کونـجی حسابېـده . اعلیحضرت احمدشاه به (بهکهر) کې دطلاسکه وهلې اودوه قسمه ئی لاس ته راغلی دی یوه په ۱۱۶۸ه کې وهـل شوې او د احمد شاه بابا دمسکوکاتو عادی نبه وربانديې لیدل کېږی . په دو یمه سکه باندې (احمد شاه دردران) جمله په منځ کې لیـکل شوې او په غاړه ئی هماغه عادی بیت ښکل شوی دی اودوهلو کال ئې ۱۱۷۷ه دی . داعلیحضرت احمدشاه بابا دسلطنت داووم اواتم کال د سکو نمونه په وروستیو کـلونو کې په دې ځای کې بدله شوې ، منځ ئې د (احمدشاه دردران) جمله اوغاړې ئې د ګـلانو پانو نیولی دی دانمونه په دیر، دېره جاتو، ملتان او کابل کې هـم مروجه وه تیمورشاه په بهکهر کې دنائب الحـکومه به حیث دخیل پـلار په نامه سکه وهلې اودخیلې پاچاهی، په زمانه کې ئې هم دسروزرو اومسوسکه وهلې ده . اعلیحضرت شاه زمان شاه محمود (اول ځل) شاه شجاع (دوهم ځل) اوشاه محمود (دویم ځل) هم په دې ځای کې سکه وهلې ده .

پېښور: ددرانو باچایانو دژمی بـلازمینی وه او مخصوصاً شاه شجاع ورسره ډېره علاقه درلوده دلته اعلیحضرت احمد شاه سلیمان شاه، تیمورشاه ، زمان شاه ، شاه محمود (اویـم ځل) شاه شجاع (دویم ځل) شاه محمود (دویم ځل) اوایوب شاه مختلفې دسروزرو ، دسپینوزرو اودمسوسکې وهلې دی . ددې سکو کړه وړه تریوې اندازې دمغلو مسکوکاتو ته ورته دی . داعلیحضرت احمد شاه بابا دپېښور سـکې دنمونې او شکل په لحاظ مغلی مسکوکاتو نه ډېرې نژدې دی لـکه چه دډېروسکودافرق نه کېږی چه آیاددرانی احمدشاه بابادی او که دمغلی احمد شاه بـهادر . داعلیحضرت تیمور شاه دپېښور سکې داعلیحضرت احمدشاه بابا اوسلیمان شاه دسکو په طرز اونمونه وهل شویدی . شاه محمود هم په ۱۲۱۶، ۱۲۱۷ او ۱۲۱۸ ه کې په پېښور کې سکه وهلې ده تته : داندوس . په دلتا کې یو بندر اود سند رومبنی بنار دی چه ترټولو اول په اتمه پېړۍ کې عربو یرغل وربانديې و کړ. په دې ځای کې اعلیحضرت احمدشاه او اعلیحضرت تیمور شاه دواړو سکه وهلې او دسپینو زرو مسکوکات ئې په لاس راغلی دی .

دیره : ددیره ضرا بخانه ددیره غازي خان په سرحـدی بنار کې داتـك نمر پر یوتیزې خواته واقـع وه . اعلیحضرت احمدشاه بابا په ۱۱۷۰ ه کال کې دغلته دسرو اوسپینوسکې وهلې دی . شهزاده تیمور هـم دخیلې پاچاهی دزمانـې نـه بخوا دنائب الحکومه ګی په دوره کې دغلته دخیل پلار په نامه سکه وهلې ده . اعلیحضرت تیمور شاه دخیلی پاچهی په زمانه کې په (دیره) کې په مختلفو نېټوسکې وهلې اوهوسوه ئې په بهاولپور کې پدی بادوی اووروستنی تاریخ ئې ۱۱۷۶ه دی .

کې لاس ته راغلی دی اعلیحضرت شاه زمان دخیل سلطنت په اول دویم اودریم کال کې دلته د سرو سکې وهلی اوشاه محمود هم دخیلې پاچهی په اوله دوره کې په اول اودویم کال کې دلته دسپینو سکه وهلې ده . همدارنګه شاه شجاع هم دخیل سلطنت په دویمه دوره کې په (دیره) کې سکه وهلی ده .

دېره جات : دېره جات دهغو ځایونه عبارت دی چه دسلیمان دغره دلې اوداتك درود په منځ کې پرتې دی . اودغازی خان ډېره (کوزګجرات) داسمعیل خان دیره اودفتح خان دیره (برګجرات) یکې شاملې دی اوله همدې وجهې ددې درې ډېرو په مجموعه باندې ددېره جاتونوم اېښودل شویدی .

دلته اعلیحضرت احمد شاه بابا ، تیمورشاه شاه زمان شاه محمود (اول ځل) ، شاه شجاع (دویم ځل) سکه وهلی ده داعلیحضرت احمدشاه بابا ددیره جاتوسکی ډېرې لږې موندل کېږی اوچندان ښه نه ده وهل شوې . په هر حال نو موږی ټولواك په دغه ځای کې دسرو اوسپینو سکې وهلی او دوهلو ځایئې «دیره جات» لیـکل شویدی . دټولواك تیمور شاه طلائی سکه هم لږه موندل کېږی مـګر د سپینو سـکې ئې ډېرې دی . په ۱۲۱۱ه کې شاه زمان دلته دسرو ښا یسته سکه وهلې ده . دتیمورشاه دسپینو زرو د سکې تول ۱۷۱ نخوده دشاه محمود ۱۷۰ اودشاه شجاع ۱۷۰ او ۱۷۱ نخوده دی .

سند : که څه هم ټولواك احمد شاه په سند کې پوره نفوذ او اقتدار درلودمګر هلته ئې سکه نه ده وهلې اوداعلاقه ده زوی تیمور دنائب الحکومه په نامه اداره کوله . ټولواك تیمورشاه یوځل دمددخان په واسطه او دویم ځل پخپله په سند باندې حمله وکړه اوترشکارپوره مخکې لاړو اوهغه ځای ئی خپل تابع کړو . شاه زمان هم په همدغه برخه حاکمیت لرلو مګر دملتان نه مخکې لاړنه شو شاه شجاع په ۱۲۱۷ هجری کې دډېرولښکرو سره په سند حمله وکړه اوتر (لارکانه) پورې ورسېد . لکه چه دا ولایت لرې ؤ نورو درانیانو هلته نفوذ ونه شوموندلې . داعلیحضرت تیمورشاه نه غیربل چا له دې کورنیو نه دلته سکه نه ده وهلې . په هند کې دنوموړی ټولواك سکې په درې ډلو ډلو برخو ویشل کېږی .

سرهند: دسرهند پخوانی بنار دلاهور او ډلی دلوئې لارې په سرهغلته چه پنجاب دهند دنورو برخونه جدا کـېږی دعسکری نقطهٔ نظر نه ډېر مهم موقعیت نیولی ؤ . دنادر افشار دوژلونه لس میاشتې پخوا ټولواك احمدشاه دغه ځای لاندې کړ. دنوموړې ټولواك هغه سکې چه دلته وهل شوی دی ددرانو هغه شپږ حملې چه د (پانی پت) دجنګ نه پخوا او وروسته ئې کړې پدی بادوی اووروستنی تاریخ ئې ۱۱۷۶ه دی .

ډیلی : تولواك احمدشاه بابا دوه ځلی په ډیلی حمله وکړه. یوځل په ۱۱۷۰ هـ (۱۷۵۶م) اوبل ځل هماغه څ چه د ۱۷۶۰م کال دفروری په میاشت کې چه داد ۱۱۷۴هـ کال سره مصادف دی دمرهټیانو لښکرو ډیلی خوشې کړ. مګر اعلیحضرت احمد شاه ډیلی په دېرش میلۍ کې یعنی په (انوپ شهر) کې ور ته پریوت . په ۱۱۷۵ هـ (۱۷۶۱م) کې مرهټیانو سخته ما تې وخوړه اوداوار ښار د درانی تولواك لاس ته راغی .

هغه دسروزرو سکې چه دښتنو په لاس ډیلی ددوه ځل فتح کولو یادګار دی اوداعلیحضرت احمدشاه بابا په نامه دی اوس هم شته .

فرخ آباد : فرخ آباد چه داګری په ولایت کی یو صد به ئی مرکزدی دهغه ښار نومدی چه نواب محمدخان غضنفرجنګ چه دښنګش ډقبیلی یوپښتون مشر ؤ اباد کړی ؤ .

اعلیحضرت احمد شاه په دغه ځای کې د «احمدشاه درانی» په نامه سکه وهلې ده .

کشمیر : د درانی باچهانو کشمیرې سکې عمو ما ددې ولایت په مرکز (سری نګر) کې وهل شوېدی . ددې ځای دسروسکې ډېری لنډی موندل کېږی مګر مسی مسکو کات ئې زښت ډېر دی . دتولواك احمدشاه بابا یوه د سروسکه چه په ۱۱۶۸هـ کی وهل شوی اوپه دې ښکلی دره باندې د پښتنو په هغه یرغل شهادت وائی کوم چه په ۱۱۶۷هـ (۱۷۵۳م) کی ئی صورت نیولی دی ددرانو دکورنۍ نورو تولو کسانو لکه سلیمان، تیمورشاه،زمانشاه، محمودشاه (رومبنی ځل) ، قیصرشاه شاه‌شجاع (دویم ځل)، شاه نورالدین ، شاه محمود (دویم ځل) اوایوب شاه دلته سکه وهلې ده .

لاهور : داعلیحضرت احمدشاه‌درانی لښکرو یوځل د۱۷۴۸م کال په‌جنوری اوبیا د۱۷۵۲م (۱۱۶۶هـ) کال په اپریل کی لاهورته ننوتلی اوهغه ئی په‌پنجاب پوری چه دنوموړی تولواك دامپراطوری یوه برخه ده، وتاړه. احمدبابا شهزاده تیمور دپنجاب، دیره جاتو اوسند نائب‌الحکومه‌مقرر کړ . اعلیحضرت احمدشاه په ۱۱۶۱هـ کی د غلته دسرو اوسپینوسکی وهلی‌دی. همدارنګه اعلیحضرت تیمور شاه او زمانشاه هم هلته سکی و هلی دی .

مراد اباد : په مراد اباد کی چه د (روهیل کنډ) یوښاردی هم اعلیحضرت احمدشاه بابا سکه وهلی ده .

ملتان : په ۱۱۶۵هجری کی د اعلیحضرت احمد شاه بابا په‌لاس فتح شو . دنوموړی اعلیحضرت رومبنۍ سکی چه دلته ئی وهلی په‌همدغه کال کی وهل شوی دی .

تیمورشاه دنائب‌الحکومه په‌حیث په ( ۱۱۷۰ او ۱۱۸۵هـ) کی د خیل پلار په‌نامه په ملتان کې سکه وهلی اوددرانو نورو باچایانو لکه زمانشاه ، محمود شاه (اول‌ځل)، شاه شجاع (دویم‌ځل)، محمودشاه (دویم ځل) اوایوب شاه هم په‌دغه ځای کی سکی وهلی دی .

نجیب اباد : په‌نجیب اباد کی چه‌داګری دولایت د بجنور په‌صوبه کی یوښاردی، نجیب‌الدوله خان درو هیلو پښتنو مشر په ۱۱۸۰هـ کی داعلیحضرت احمدشاه په‌نامه سکه وهلی ده .

ددرانو باچایانو دسکو نمونې :

اعلیحضرت احمد شاه : داتك د سرو سکه :

دسکی په‌مخ :

حکم شد ازقادر بیچون به احمدباد شاه
سکه زن برسیم وزرازاوج ماهی تابه‌ماه

دسکی‌په شاه : (جلوس میمنت مانوس ضرب اتك سنه۱۵)

دسپینو سکه : په پور تنی صورت .

دمسو سکه :

دسکی په‌مخ : ( احمدشاه باد شاه درانی فلوس ۱۱۷۰)

دسکی په شا : ( ضرب ملتان جلوس مبارك ۱۰ )

تیمور شاه نظام : ( د د پره جا تو ، پنجا ب او سند دنائب‌الحکومه په‌حیث )

د سروسکه : بعالم‌یافت‌سکه‌تیمورشاه‌نظام ) ضرب‌دیره.
د سکی مخ : به حکم خدا ور سول انام
دسکی شا : (ضرب دیره سنه احد )

دسپینو سکی هم په پور تنی صورت وهلی شوې دی .

دمسو سکه :

دسکی په مخ : ( فلوس تیمور شا هی )

دسکی په شا ، ( ضرب دیره سنه ۳ )

اعلیحضرت تیمور شاه :

داتك‌دسرو سکه :

دسکی په‌مخ :

چرخ می آرد طلا و نقره ازخورشیدوماه
تا کند به چهره نقش سکهٔ تیمو ر شاه

دسکی په‌شا : ( جلوس میمنت مانوس ضرب اتك سه)

دسپینو سکی ئی هم په پورتنی ډول وهل شوېدی .

دمسو سکی :

دسکی مخ : ( تیمور شاهی فلوس )

دسکی شا : (ضرب بکهر ۱۱۹۴)

اعلیحضرت شاه زمان :

دسرو سکه : (ضرب اشرف البلاد احمد شاهی )

دسکی مخ :

قرار یافت بحکم خدای هر دو جهان
رواج سکهٔ دولت بنام شاه ز مان

دسکی شا : (سنه ۱۲۰۹)

دسپینو سکی هم په پورتنی ډول وهل شو یدی .

دمسو سکی :

دسکی مخ : (زمان شاهی فلوس )

دسکی شاه : (ضرب بکهر)

اعلیحضرت محمودشاه: دسپینوسکه چه په هرات کی وهل شو یده:

دسکی مخ :

سکه برزر زد به توفیق الله خسرو گیتی ستان محمودشاه

دسکی شا : ( ضرب دارالسلطنة هرات ۱۲۱۶)

اعلیحضرت محمود شاه : ( دباچهی اول ځل ) :

دسروسکه چه په اشرف البلاد احمدشاهی کی وهل شو یده :

دسکی مخ : په هماغه پورتنی ډول :

دسکی شا : (ضرب اشرف البلاد احمد شاهی ۱۲۱۸ )

دسپینو سکه هم په همدی ډول دهل شو یده .

دمسو سکه :

دسکی مخ : (محمود شاه غازی ۱۲۱۶ )

دسکی شاه : (ضرب کشمیر سنه احد )

اعلیحضرت شاه شجاع الملك :

داشرف البلاد احمدشاهی دسرو زرو سکه :

دسکی مخ :

سکه زد برسیم وزر چون مهرو ماه
شاه دین پرور شجاع الملك شاه

دسکی شا: په دوؤ دائرواوځلورو محرابونو کې لیکل شو یده
( ضرب اشرف البلاداحمد شاهی )

دسپینو سکې ئی هم په همدې ډول وهلی اودبهاولپور دسپینو زرو دسکو په یوه نمونه کې دسکې په مخ دابیت لیکل شو یدی:

سکه زد برسیم از فضل خاص کرد گار
خسر و گیتی ستان شاه شجاع نا مدار

دسپینو به یوه بله سکه کې چه په کشمیر کې وهل شوې دابیت لیکل شو یدی :

سکه زد ازفضل حق برسیم وزر شه شجاع الملك شاه بحرو بر

دمسو سکې :

دسکې په مخ:(فلوس شجاع الملك شاهی. یاشجاع الملك شاه دردرانی پادشاه) دسکې په شا باندې دسکې دوهلودځای نوم ، کال اودیوې یادؤو تورو شکل چه یوه بل پرتې دی ، لیدل کیږی .

قیصر شاه :

دسرو سکه : (چه په اشرف البلاداحمد شاهی کې وهل شو یده )

دسکې په مخ :

سیم وزر در جهان بحکم الله گشت رائج بنام قیصرشاه

دسکی په شا: (ضرب اشرف البلاد احمدشاهی ۱۲۱۸) په دغه پورتنی ډول ئې په کشمیر کې دسپینو زرو سکه هم وهلې ده .

اعلیحضرت محمودشاه (دویم ځل) :

اعلیحضرت محمودشاه دوهم ځل هم دسرو، سپینو اومسو سکې وهلې دی . دسکو په مخ ئې دابیت ښکل شو یدی :

سکه دولت به زروسیم فزود حسن دیگر سلطان محمود
سکه برزر زد به توفیق الله خسرو گیتی ستان محمودشاه

شاه نورالدین : دکشمیر دسرو زرو سکه :

دسکې مخ : (ضرب خطهٔ کشمیر سنه۲ پادشاه نورالدین یا مخدوم جهان) .

دسکې په شا : ( الدنیا جیفة وطالبها کلاب ۱۲۲۵) په ځینو سکو کې ئې دابیت ښکلی دی :

سکه شدروشن زشاه نورالدین رائج ازمخدوم قطب العارفین

ایوب شاه : دپښور دسرو زرو سکه :

دسکی په مخ : شدجهان روشن تر از خورشیدوماه
از شعاع سکهٔ ایوب شاه

دسکې په شا : (ضرب پشاورجلوس سنه ٦ )

دسپینو زرو په ځینو سکو کې ئی دا بیت ښکلی دی :

سکه شاه ایوب به زرو سیم زدبه تائید کرد گار عظیم

کامران شاه : په هرات کې ئې دسپینو سکه وهلې ده

شجاع الملك ( دریم ځل ) :

په کابل اواحمدشاهی کې ئې دسپینو اوسرو سکه وهلې ده .

فتح جنگ : د کابل دسپینو زرو سکه :

دسکی مخ : ( سلطان فتح جنگ پادشاه غازی ۱۲۷۸ )

دسکې شا : ( ضرب دارالسلطنة کابل ۱۲۷۸) شاه پورشاه

هم ځینی سکی په کابل کی وهلی دی .

محمدزی : دمحمد زوزمانه چه په تاریخ کی داوسنی افغانستان دوره ورته ویل کیږی دسروزرو سپینو زرو اودمسو مهمی سکی لری چه مونږ ئی دلته نمونی راوړو :

اعلیحضرت امیر دوست محمد خان :

(۱) دسپینو سکی :

دسکی مخ : کمر به بست وبزد سکه بعزم جهاد
امیر دوست محمد ناصرش حق باد

دسکی په شا : ( ضرب دارالسلطنه کابل ۱۲۵۰ )

(۲) دسکی مخ : عروج دوست محمد به ملك و جاه کشید
دور رواج سکهٔ پاینده خان رسید

دسکی په شا : (۰)

داعلیحضرت امیردوست محمدخان په سکو کې دا بیت هم لیدل شویدی :

شمس وقمر به سهم و طلا می دهد نوید
وقت رواج سکهٔ پاینده خان رسید

اعلیحضرت دوست محمد خان چه دوهم ځل باچا شو نو بیائی دا بیت په خپلو سکو کې ښکل کولو :

بزد زیمن عنایات خالق اکبر
امیردوست محمددوباره سکه بزر

امیرشیرعلی خان : په گردوروپو او دسپینو په غرانو نو سکه وهلی ده هغه سکی چه ده ۱۲۹۲ او ۱۲۹۵ کې په کابل کی وهلی دی نمونه ئی دغسی ده .

دسکی په مخ : ( امیر شیرعلی ) او گرد چا پیره تړې کلمه مبارکه .

دسکی په شا : ( یك روپیه ضرب دارالسلنة کابل ۱۲۹۵ )

اعلیحضرت امیر شیرعلی خان په خپلو ځینو سکو کی لاندینی بیتونه هم ښکل کړیدی :

زیمن مرحمت کرد گار لم یزلی
بیافت سکه رواج از امیرشیرعلی

ز الطفات کبیر امیر نیك ضمیر
امیر شیرعلی سکه زد چو بدرمنیر

شد ازعنایات و الطاف لم یزلی
رواج سکه بنام امیر شیر علی

کله چه دوهم ځل باچا شو دا بیت ئی استعمال کړ :

سکه زد درجهان چو بدرجلی بار دوم امیر شیر علی

امیر محمد اعظم خان :

دسکی په مخ : ( امیرمحمداعظم ) .

دسکی په شا : ( ضرب دارالسلطنة کابل ۱۲۸۴ )

دده په ځینو سکو کی دا بیت هم لیدل شویدی :

چو از عنایت الطاف حق ملزم شد
رواج سکه بنام محمد اعظم شد

امیر محمدافضل خان : دا بیت دده سکوته منسوب دی :

دوفوج مشرق ومغرب زهم مفصل شد
امیر ملك خراسان محمد افضل شد

امیرمحمد یعقوب خان : دسپینوسکه :

دسکې مخ : ( امیرمحمد یعقوب ۱۲۹۶ )

دسکې شا : (ضرب دارالسلطنة کابل ۱۲۹۶) ده په همدغه ډول په هرات کی هم سکه وهلې ده .

کله چه امیر محمدیعقوب خان دانگریزانو په لاس کی بندی شو اوبردې لښکر کابل ته راورسېد یوه سترملی مشر محمد جانخان وردگ چه دده دغیرتي اوگران نامه سره دوطن ددښمنانو دشړلو په قضیه لوی اوواړه اشنادی دافغانستان دباچا دپیدا کیدلو په انتظار کی داسی سکه ووهله :

میکنم دیوانگی تابر سرم غوغاشود
سکه بر زرمی زنم تاصاحبش پیداشود

اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان :

دسپینو سکه :

دسکې په مخ : په طغرائی شکل (امیر عبدالرحمن - ۱۲۹۸)

دسکې په شا : (ضرب دارالسلطنه کابل ۱۲۹۸)

دهرات دسپینو زرو سکه :

دسکې مخ : (امیر عبدالرحمن ۱۳۰۵ )

دسکې شا : ( ضرب دارالسلطنه هرات )

په دې لحاظ چه ددې نه را وروسته سکی ډېرې پیدا کیږی دهغی ذکرو نه شو .

## په افغانستان کې ملوك الطوائفی :

لکه څنگه چه معلومه ده په افغانستان کی ملوك الطوائفی دلویو مرکزی دولتو نونه پخوانی ده. ددې مملکت په ډېرو پخوانو تاریخی زمانو کی واړه محلی امراء دوطن په هر کنج او گوښه کی موجودوو اود ملوك الطوائفی په صورت ئی حکومت کاوه . دافغانستان دلویو اومرکزی دولتونو بنسټ اوتشکیل هم اصلا دهماغه وړوملوك الطوائفی حکوماتو دتکامل نه پیداشویدی شوزره کاله پخوا کله چه دافغانستان اریائیانو یوه ساده اوطبیعی ژوندکاوه اوبه تدریج سره ئی د شپنتوب، نیمی مالداری او نیمی دهقانی ژمراحل طی کول،دوی کوچنی رئیسان اونورمشران، په خپلو تېرونو،کلواوقریو کی لرل چه د« کوتراپاتی Cotrapati» او « گرامینی «Gramani » په نومونو به یادیدل .

ددوی لوی مشرته به ئی چه په هغو قریو به ئی نفوذ لرلو «جاناپا دا Janapada » وایه .

داطرز دافغانستان دملوك‌الطوائفی ړومبنی بنسټ دی چه دپخوانو زمانو راهیسی په‌دې وطن کی موجود ؤ اوپه ورو سته پیړیو کی ئی وده کړی ده .

داکوچنی‌مشران به‌غالبا دخپلو مشرولیو په دائرو کی ازادؤ اوپخپله خوښه به‌ئی حکومت کاوه، مګرکله‌کله به د یوبل لوی مشر تابع ؤو . ددې ورومشرانو (ملوك‌الطوائفو) لوی والی اواقتدار په‌افغانستان کی دلویو اومرکزی دولتونو دلوی والی اواقتدار سره یومعکوس نسبت لاره .

کوم‌وخت چه‌په وطن کی دولت میدان ته‌راغلی داکوچنی مشران یابیخی‌ورك شوی اویاخوئی دنومړو دو لسټونو دلاس لاندی دحکامو اونائب‌الحکومه ګانو حیثیت موند لی دی . بالعکس هروخت چه دافغانستان مرکزی دولتونه دمنځ نه‌تلی یاضعیف شویدی ملوك‌الطوائف بیارا پیدا شویدی .

دافغانستان ملوك‌الطوائف چه هریوه‌خانته مخصوصه منطقه اورعایا اوکلی لرل او خپلو پخپل نامه سکه هم وهلی اودامیر یاباچا لقبونه ئی هم خانته غوره کړی په‌دی لحاظ چه دمملکت دجغرافیافی اوضاعو له‌مخی لوړو اوسختو غرونو په بهلوبهلو درو‌بشلی نودې ورومشرانو هم په‌یوازې صورت ژوند کاوه اوډیرډیر به‌ئی پخپل استقلال تکیه کوله . دوی به په داخلی چارو کی‌په مطلق‌العنان‌ډول‌یادیو واړه باچا غوندی اداره کوله.

دافغانستان دتاریخ کتنه هرګندوی چه زرکاله د میلادنه پخوا اودپیشدادیانو، کیانیانو اودافغانستان داسیو نه ړومبی او همدارنګه وروسته تردی دهخامنشیانو او دیو نانی ا سکندر دحملو په‌وخت کی واړه واړه مشران اوباچهان دمملکت په‌هره خواکی‌را پیداشول‌اودخارجی دښمنانو دلښکرو سره ئی مقابله اوجنګ وکړ. همدارنګه دیونانوباختری دولتونو په‌دوره کی اودافغانستان دیفتلی اوکوشانی دولتونونه وروسته اود ترکانو چینیانو اوساسانیانو دنفوذ په زمانه کی دمملکت په هره برخه کی ورشمیر محلی ملوك‌الطوائف موجود ؤو چه‌داسلام د راتلو پوری ئی خپلوحکومتونو ته دوام ورکړیدی .

دافغانستان‌تاریخونه‌او کیسی دمملکت‌داډول ملوك‌الطوائف ډیرځله یادوی چه ترټولو مشهور ئی دادی :

دباختر «ویستاسپه» ، دبلخ«بسوس» ،دهرات «ساتی‌بارزانس» دسیستان «بارسائنتس» ، باختری «سیتیانس» ، «اکزر یاتس» او دبلخ اوکابل «کیداری» حکومتونه اودهندوکش د شمال اوجنوب رتبیل شاهان ، برهمن شاهان اوتګین شاهان اونور .

د فردوسی شاهنامه هم دافغانستان لحینی ملوك الطوائف لکه‌دغور دولایاتو ،دغرجستان اودکابل اوزابل امراء اونور، یادوی .

همدارنګه لحینی هغه‌ملوك الطوائف چه په افغانستان کې ئې خپل اقتدار ته داسلام دنشراورا رسیدو پوری‌دوام ورکړی، دعربو اوداسلام دمورخینو له‌خوا پېژندل شوی اویاد شویدی، لکه‌دخوارزم پخوانی امراء (آل‌عراق)، دغور د ولایت امراء چه‌په (آل سوری) یادیدل ، دبامیانوامراء چه دبامیانو د زمرو په‌نامه یادیدل دغرجستان دولایت امراء چه(شاران) به‌ئې درته ویل، اودګردیزاودسیستان‌دولایاتو امراء اونور . ابن‌خردادیه دافغانستان دمحلی پاچاهانو نومونه او لقبونه داسی یادوی:

(کنار) د نیشاپور باچا ، (ماهویه) دمرو باچا ، (زادویه) دسرخس باچا ، (بهمنه) دا بیورد باچا ، ( ابراز ) دنساباچا ، ( براز بنده ) د غرجستان باچا ( گیلان) دمرو الرود باچا، (فیروز ) دزابلستان باچا، کابلشاه ، (ترمذ شاه ) شیر بامیان ، (خداة) دجوزجان‌باچا: (گوزګان خدای) ، (خسرو) دخوارزم باچا ،(رتبیل) دسجستان ، الرخج او دبلاد داورباچا، (برازان) دهرات ، پوشنج اوبادغیس باچا.

ابن‌خردادیه وائی چه‌ددې باچهانولقبونه ددوی دوطنوهغو نرمونوته منسوب‌وو چه داسلام‌نه‌پخوائې‌لرل‌لکه : کابلان‌شاه، مروشاه،سجستان شاه ، مکران‌شاه، جوزجان شاه او نور .

همدارنګه په‌اسلامی تاریخونو کی هم‌دتخارستان ، فاریاب، تالقانو او نورو محلی امراء وذکر کېږی چه‌داسلام په ړومبنیو پېړیو کې تېر شو یدی . لنډه ئی دا چه د اسلامی دو رې دملوك‌الطوائفی‌ړ په‌متعلق‌چه کوم‌تفاصیل موجوددی هغه دالاندنی باچهان را ښئی :

آل‌فریغون گوزګان په دریمې او څلور مې هجری پېړی کې ، آل محتاج چغانیان په څلورمه هجری پېړی کښی د بلخ آل داؤد په دوهمې او دریمی هجری پېړیو کې ، د خوارزم آل‌مأمون په څلورمه هجری پېړی کې ، د غور آل شنسب په‌پنځمې اوپنځمې هجری پېړیو کې ، دبامیانو دغوری امراء په‌پنځمې اوشپږمی هجری پېړیو کې، دنیمروز او سیستان باچهان دپنځمی هجری پېړی‌نه تراومې پورې ، دهرات دکرت باچهان داومې اواتمې هجری پېړیو، دسبزوار سربداریه امراء په‌اتمه هجری پېړی کی ، دبلوچستان امراء چه‌په‌سهراب‌اوسوار قنبر به یادیدل او په مختلفو هجری پېړیو کی‌ئی ژوند کاوه په‌اسلامی دوره کې دسند امراء لکه چچان، لودیه، لنګا، جامان اومیران، دقندهار د توخی او ارغونی‌امراء په نهمی او لسمی هجری پېړیو کی ، دهرات ابد الی امراء په هجری دو لسمه پېړی‌ړ کی اوددوی په‌شان نور .

په‌هرصورت دملوك‌الطوائفی‌ړ سیستم‌په‌افغانستان کې‌دپخوانو پېړیو راهیسی دهجرت تر دیارلسمی پېړی‌پورې یووخت اوبل وخت په یوځای اوبل‌ځای کی کله‌قوی او کله ضعیف میدان ته راوتلی‌دی . اوددی ملوك الطوائفی‌ړ تاریخ دافغانستان د تاریخ یوه مهمه برخه ګڼل کېږی .

# د بهروز د تتبع ماخذ

## الف ـ تذکری :

۱ـ دعوفی لباب الالباب ، د مرحوم افندی هاشم «شائق» خطی نسخه . ۲ـ ددولتشاه سمرقندی تذکره دبمبئی چاپ .
۳ـ مجموعهٔ نغزدهندچاپ . ٤ـ ریاض الشعرادمرحوم افندی د کتابخانی قلمی نسخه . ٥ـ مأثر رحیمی دریم توك دهند چاپ .
٦ـ نمونهٔ ادبیات تاجك دماوراء النهر چاپ . ۷ـ تذکرهٔ افضل دمرحوم افندی قلمی نسخه . ۸ـ تذکرهٔ محترم د مرحوم افندی قلمی نسخه . ۹ـ تحفة الاحباب اوضح دماوراء النهر چاپ . ۱۰ـ اثار هرات دوهم اودریم توك د هرات چاپ .
۱۱ـ خزانهٔ عامره دهندچاپ . ۱۳ـ مرآت الخیال دهندچاپ . ۱۳ـ سکینة الفضلا دهندچاپ. ۱٤ـ شمع انجمن دهند چاپ .
۱٥ـ نگار ستان سخن دهندچاپ . ۱٦ـ چراغ انجمن . ۱۷ـ مجمع الفصحا لو مړی او دوهم توك د ایر ان چاپ .
۱۸ـ تذکرهٔ فضلی سمنگانی دمرحوم افندی هاشم شائق قلمی نسخه. ۱۹ـ تذکرهٔ نصر آبادی دایران چاپ . ۲۰ـ تذکرهٔ سر خوش دهند چاپ . ۲۱ـ قافیه سنجان آئین اکبری د مرحوم افندی خطی نسخه . ۲۲ـ تحفهٔ سامی د ایران چاپ . ۲۳ـ تذکرهٔ میخانه دهند چاپ . ۲٤ـ ریحانة الادب لومړی توك د ایران چاپ . ۲٥ـ نامهٔ دانشو ران لو مړی او دوهم توك د ایر ان چاپ .
۲٦ـ آتشکدهٔ آذر دبمبئی چاپ . ۲۷ـ مذکر احباب دمرحوم افندی د کتابخانې قلمی نسخه . ۲۸ـ ریاض العارفین دایران چاپ .
۲۹ـ دشعر العجم مختلف توکونه د کابل او هندچاپ . ۳۰ـ پرده نشینان سخن گوی دکابل چاپ . ۳۱ـ هفت اقلیم لومړی توك دهند چاپ . ۳۲ـ تذکرهٔ سروآزاد د هند چاپ . ۳۳ـ مأثر بلخ دښاغلی خسته خطی نسخه . ۳٤ـ د معاصرین سخنور له یوې برخی څخه چه دانیس په ملی ورځپاڼه کی خپور شویدی . ۳٥ـ صنعتگران وخوش نویسان هرات دکابل چاپ . ۳٦ـ تذکرهٔ حسینی.

## ب ـ د تاریخ کتابونه

۳۷ـ عمل صالح یاشاهجان نامه دریم توك دهند چاپ . ۳۸ـ طبقات اکبری دهند چاپ . ۳۹ تاریخ گزیده دایران چاپ .
٤۰ـ طبقات سلاطین اسلام دایران چاپ . ٤۱ـ سراج التواریخ لومړی، دوهم اودریم توکونه دکابل چاپ . ٤۲ـ افغانستان بیك نظر دکابل چاپ . ٤۳ـ تاریخ افغانستان درقرن ۱۹ دکابل چاپ . ٤٤ـ تاریخ عمومی دیعقوب حسن خان تألیف دکابل چاپ .

## ج ـ د ادبیاتو تاریخ :

٤٥ـ دملك الشعرا بهار سبك شناسی دری واړه توکه دایران چاپ . ٤٦ـ ازسعدی تاجامی دایران چاپ. ٤۷ـ کتاب جامی دحکمت تألیف .
٤۸ـ دافغانستان تاریخ دکابل چاپ . ٤۹ـ روابط ادبی ایران وهند دایران چاپ . ٥۰ـ تاریخ مختصر نثر فارسی د ایران چاپ .
٥۱ـ تاریخ ادبیات ایران (شفق) د ایران چاپ . ٥۲ـ تاریخ ادبیات ایران (نیساری) دایران چاپ. ٥۳ـ شعر وادب فارسی دایران چاپ .

## د ـ دشاعرانو دیوانونه :

٥٤ـ کلیات طرزی افغان دکراچی چاپ. ٥٥ـ دمایل برنا بادی دیوان دلیکونکی کتابخانه. ٥٦ـ دعندلیب قلمی دیوان دپوهنی دوزارت دکتابخانی نسخه . ٥۷ـ منتخب دیوان قلمی فرحت دلیکونکی کتابخانه. ٥۸ـ دیوان شیدا دمطبوعاتو کتابخانه . ٥۹ـ کلیات جامی دهندچاپ. ٦۰ـ دنسیم قلمی دیوان دنادم میمنه وال دیوان دمطبوعاتو دکتابخانی نه . ٦۱ـ دنادم امین دیوان . ٦۲ـ دقندهاری عائشی دیوان دکابل چاپ . ٦۳ـ دشهاب ترشیزی قلمی دیوان. ٦٤ـ دمیرظهور الدین «ظهور» قلمی دیوان . ٦٥ـ پراگنده محمود طرزی دکابل چاپ . ٦٦ـ دواصل د شعر ونو دیوانچه دلیکونکی تولنه . ٦۷ـ د شرر کابلی دیوان دعبدالعلی خان لعلی نسخه.

## ه ـ داشعارو منتخبات اوقلمی جنگونه :

٦۸ـ بهترین اشعار دایران چاپ . ٦۹ـ گلستان مسرت دهند چاپ . ۷۰ـ خریطهٔ جواهر د هند چاپ . ۷۱ـ گلزار معرفت دهندچاپ . ۷۲ـ گلزارادب لومړی توك دایران چاپ. ۷۳ـ تحفة الحبیب دمطبوعاتو دکتابخانی قلمی نسخه . ۷٤ـ دصفی داشعارو مجموعه دمطبوعاتو دکتابخانی قلمی نسخه . ۷٥ـ د عارفی گوی وچوگان دمطبوعاتو دکتابخانی قلمی نسخه . ۷٦ـ حبیب القصائد دحاجی محمد عزیز محمد زی دمطبوعاتو د کتابخانی قلمی نسخه . ۷۷ـ دقلمی جنگونو مطور توکه دمطبوعاتو دکتابخانی. ۷۸ـ دوه توکه قلمی جنگونه دمرحوم افندی هاشم شائق دکتابخانی نه . ۷۹ـ گلچین جهانبانی دایران چاپ . ۸۰ـ جنگ قلمی دردایف الاشعار د لیکونکی مرتبه اوتوانه . ۸۱ـ ردایف الاشعار محترم دافندی هاشم شائق قلمی نسخه .

## و ـ کلکسیونونهٔ اومجلې :

۸۲ـ دآریانا دمجلې څو کلن کلکسیون او پرله پسی گڼې . ۸۳ـ دآئینه عرفان څو کلن کلکسیون . ۸٤ـ دعرفان دمجلې څو کلن کلکسیون . ۸٥ـ دکابل دمجلی لس کلن کلکسیون له لومړی کال نه تر لسم کال پوری . ۸٦ـ ددانش دمجلی دری گڼې د ۱۳۳۲ کال . ۸۷ـ دادب دمجلې دلومړی کال لومړی گڼه . ۸۸ـ دژوندون دمجلې د ۱۳۳۲ کال یوه گڼه .

## ز ـ متفرقه مأخذ :

۸۹ـ دجناب افندی هاشم «شائق» مرحوم درسی نوټونه . ۹۰ـ دډاکتر «جاوید» درسی نوټونه. ۹۱ـ دبهروز خصوصی درسونه (خاتمه)
۹۲ـ د دیوان افغانی مقدمه .

دائرة المعارف ... جلد

(الف)

## د جلالی د تتبع ماخذ


۱- دپښتو ادبیاتو لومړی ټوک دحبیبی اثر .
۲- پښتانه شعراء دحبیبی اثر .
۳- پښتانه شعراء دریښتین اثر .
٤- دپښتو د ادبیاتو تاریخ دریښتین اثر .
٥- دپښتو ژبې داشتقاق کتاب دریښتین اثر .
٦- دپروفیسر مارګن ستپون لیکنې اومقالې دخیر البیان نمونې .
۷- دپادری هیوز کلید افغانی دلاهور طبع .
۸- دمستر راورټی د ګرامر مقدمه .
۹- دمستر دورن اثر (کرستو ماتی آف پښتو) .
۱۰- داخوند درویزه مخزن الاسلام قلمی نسخه دمطبوعاتو د کتابخانی .
۱۱- دمیا روښان حالات د ښاغلی خادم لیکنه .
۱۲- پښتنی (۸) زره خوږی لنډۍ .
۱۳- اجتماعی روزنه دښاغلی سیفی ترجمه .
۱٤- دستر ټولواک شیرشاه سوری تاریخ .
۱٥- پته خزانه دمحمد هوتک اثر د کابل چاپ .
۱٦- دخوشحال خان کلیات دمطبوعاتو د کتابخانی مال .
۱۷- درحمت داوی قلمی لیلی مجنون اودشاه زمان حالات .
۱۸- لوی احمدشاه بابا د کابل چاپ دښاغلی حبیبی لیکنه .
۱۹- داحمدشاه بابا دژوند کارنامې دښاغلی غبار اثر .
۲۰- داحمدشاه بابا دیوان دمطبوعاتو د کتابخانې مال (خطی نسخه).
۲۱- دلنډیو خطی مجموعه چه لما سره موجوده ده .
۲۲- دبرهان خان اشعار خطی دښاغلی عبدالله افغان نویس د کتابخانې .
۲۳- دپښتو سیند دښاغلی محمد ګل خان مهمند اثر .
۲٤- دمینې هنداره دپښتو ټولنې له خپرونو څخه .
۲٥- دښاغلی رابرت پنزل امریکائی اې ګرامر آف پښتو .
۲٦- دهند قاموس دیوه پښتون لیکوال د کتابخانی .
۲۷- وېدك اندیا دیوه پښتون لیکوال د کتابخانی .
۲۸- حیات افغانی ، دحیات خان مهم اثر په اردو ژبه .
۲۹- خورشید جهان دشیرمحمد ګندپور مشهور کتاب .
۳۰- د خانجهان لودی لیا دنعمت الله نورزی مخزن افغانی .
۳۱- تاریخ مرصع خطی نسخه دافضل خان خټك لیکنه د مطبوعاتو د کتابخانی مال .
۳۲- دشیخ رحمکار (کاکا صاحب) دحالاتو کتاب خطی نسخه دمطبوعاتو د کتابخانی مال .
۳۳- الایجاز فی تاریخ الادب العرب دمصر چاپ .
۳٤- دډکتور طه حسین اثر دمصر دفاکولتی ادبی درسونه .
۳٥- معجم البلدان دیاقوت حموی اثر دبست په موضوع .
۳٦- دابوالفضل آئین اکبری دهند چاپ .
۳۷- اکبر نامه دابوالفضل اثر دهند چاپ .
۳۸- یواځنی پښتو ، د کابل چاپ دپښتو مرکې تالیف .
۳۹- پښتو پښویه ، دکابل چاپ دپښتو مرکې تالیف .

٤٠- دبابدو تعليمنامه دقاضي ليكنه دامير شير عليخان دعصر چاپ .
٤١- پښتنی ميرمنی د ښاغلی بينوا اثر دکابل چاپ .
٤٢- دعبدالقادرخان ديوان دقندهار چاپ .
٤٣- ملی سندری دښاغلي نوري ټولونه دکابل چاپ .
٤٤- ملی هنداره (٢) جلدونه دنوری اثر دکابل چاپ
٤٥- دميني مينه ه کابل رادیو دنشراتو لخوا خپورشوی اثر .
٤٦- دعنمو وزی دښاغلی بينوا ، اثر .
٤٧- دپيرمحمد کاکړ ديوان دښاغلی بينوا په تعليق او تصحيح دپښتو ټولنی له مقدمی سره .
٤٨- گنجينهٔ افغانی دقاضی رحيم‌الله اثر .
٤٩- گلدسته دپښتو نثر دچارسدې د محمد اکبر اثر .
٥٠- پښتنی ارمان دکابل‌چاپ دپښتونستان دشاعرانو اثار اواشعار دی .
٥١- دافغانستان تاريخ دمنشی‌احمدجان اثر .
٥٢- گنج پښتو دمنشی‌احمدجان پښوری اثر .
٥٣- بهارستان اوشکرستان دمير احمدشاه رضوانی اثر .
٥٤- دقصه‌خوانی کتب دمنشی‌احمدجان مهم تاليف .
٥٥- هفه، دغه دمنشی‌احمدجان اثر .
٥٦ - تاريخ سلطانی دسلطان محمد بارکزی تاليف دهند طبع .
٥٧ - جهانگشای نادری دقندهار دپښتو په‌مواردو کی .
٥٨ - فتوح‌البلدان بلاذری دبست په مورد کی .
٥٩ - گلشن روه دراورتی اثر چه‌دپښتو دشاعرانو دآثارو مجموعه‌ده .
٦٠ - دپروفيسر کايگر جرمنی نظريات دپښتو اوپښتنو په‌باره کی دگهزاد آثارو هفه .
٦١ - دآريانا دمجلی دلومړی کال کلکسيون او لمبر ١٤٥ - لمبر ١٤٧ او ١٤٨ گڼی .
٦٢ - دپښتونخوا هارو بهار . ددار مستتر اثر .
٦٣ - دبرتانيې دموزيم دکتابخانی کتلاك دښاغلی معروف ترجمه اوتعليقات خطی .
٦٤ - دسردارپردل خان اوسردارمهردل خان دپښتو اشعارو خطی مجموعه دمحمد رفيق‌خان کتابخانی
٦٥ - بهار نوروزی ، دنوروز مشر قی وال اثر دهند طبع .
٦٦ - نافع المسلمين‌داخوند نورمحمد گدا اثر دمطبوعاتو کتابخانی د پانو شمير ١٤٣
٦٧ - تذکره علمای هند تاليف رحمان علی (پارسی) .
٦٨ - خلاصة‌الانساب دحافظ رحمت خان‌تاليف چه‌خطی نسخه‌ئی ٢٨ پانی دمطبوعاتو په کتابخانه کی‌شته
٦٩ - دخوشحال خان دکلياتو قلمی نسخه دمطبوعاتو دکتابخانی مربوط تر ٦١٧ لمبر لاندې .
٧٠ - دعبدالقادر خان خطی‌ديوان دمطبوعاتو دکتابخانی مربوط .
٧١ - درحمان‌بابا خطی‌ديوان دمطبوعاتو دکتابخانی مربوط .
٧٢ - داحمدشاه بابا خطی ديوان‌چه‌خورا نفيسه نسخه‌ده دمطبوعاتو دکتابخانی مال .
٧٣ - دمطيع‌الله خطی‌ديوان دمطبوعاتو دکتابخانی مال چه (١٤٨ پانی لری) .
٧٤ - دداعی لغمانی ديوان چه‌خطی نسخه‌ئی داصلاح له‌محرر سره موجوده او انتخاب ترې شو يدی .
٧٥ - دمولانا نجم‌الدين اخوند صاحب دژوند حالات دښاغلی مولوی حسن ليکنه .

دا (٧٥) کتابونه هفه مآخذدی چه نومونه ئې زما په‌ياد پاته شويدی ، لدې مدار کو څخه‌ماسوا ددې مهم مضمون په‌ليکته کښې ماو نورو کتابونه همرجوع کړی چه پخپله دمضمون په‌لړ کی لځای‌به‌لځای هغوی ته‌اشاره شوی ، خودلته می‌له‌يادونه وتلی اوذکر نشول ، لځکه‌ځدا مضمون به‌خورا لځند او ژوره تتبع ليکل شويدی .

غلام جيلانی «جلالی»